فتاویٰ دارالعلوم دیوبند

مُدلّل و مکمّل

پښتو

۹


بسم الله الرحمن الرحيم

دموجوده وخت په دار الافتآء کی دمروجه نسخو مطابق، دنوی تخریج سره اعلیٰ کمپوټری چاپ

فتاویٰ دار العلوم دیوبند

مُدلّل و مکمّل

په آسانه او روانه کندهاری پښتو

نهم جلد ۹

کتابُ الطّلاق (نصفِ اوّل)

تالیف: مفتی اعظم عارف بالله حضرت مولانا مفتی عزیز الرحمٰن صاحب عثمانی
((ددار العلوم دیوبند اول مفتی))

په لار ښوونه د: حکیم الاسلام حضرت مولانا قاری محمدطیّب صاحب (مهتمم دارالعلوم دیوبند)

مرتب: مولانا محمد ظفیر الدین صاحب، رفیقِ شعبۂ ترتیبِ فتاوٰی دار العلوم دیوبند

اضافه تخریج جدید: مولانا مفتی محمد صالح، رفیقِ دارالافتآء جامعۃ اسلامیه، بنوری ټاؤن کراچی

ژباړه، تعلیق او تحقیق: مولانا الحافظ محمّد أحمد الحقاني الأفغاني، فاضلِ حقانیه، پشاور

زیرِ نګراني: شیخ الحدیث حضرت مولانا الشیخ عبد القادر النهرکاریزي (دامت بر کاتهم العالیة)

مکتبۂ حبیبیه

کاسي روډ، کوئټه : 0812662448

لومړی چاپ

۱۴۲۹ شعبان \ اګست 2008

Maktabah Habibiyah

Publishing Organization

مکتبه حبیبیه

خپروندویه ټولنه

Arg Bazar, Kandahar, Afghanistan. Mob : 0799447413 : ارګ بازار کندهار ، افغانستان ، ګرځنده تلیفون

Kasi Road, Quetta, Pakistan . Phone : 0812662448 : کاسي روډ ، نزد مسجد نور ، کوټه ، تلیفون شمیره

AL-ILM Computers, Quetta. Mob: 03218016371 :العلم کمپیوټرز، کوټه پاکستان، ګرځنده تلیفون شمیره

دفتاوی دار العلوم دیوبند مدلّل او مکمل (پښتو) دمضامینو فهرست، جلد ۹

مخ	مضمون
۸۳	په زړه کي په دي سوچ سره چي طلاق مي ورکی یا داچي نه به یي ساتم طلاق نه واقع کیږي
۸۳	دروږو او دکالو په تښتولو سره طلاق نه واقع کیږي
۸۴	دپنسل په ذریعه پرکاږه باندي دطلاق په لیکلو او ښځي ته په لیږلو طلاق واقع کیږي
۸۴	داوولسو (۱۷) کالو دهلك طلاق واقع کیږي
۸۴	په حالت دلیونتوب کي طلاق نه واقع کیږي
۸۵	دخوارلسو کلو او دلسو ورځو په عمر کي طلاق ورکړی نو واقع سو او که نه؟
۸۵	ښځي زنا وکړه او میړه معاف کړه نو څه حکم دی؟
۸۵	ولي طلاق نه سي ورکولای او نه دده طلاق واقع کیږي
۸۵	کله چي ښځه وتښتي نو میړه به څه کوي؟
۸۶	دطلاق په معنی نه پوهیدی او طلاق یي ورکی، نوهم طلاق واقع سو
۸۶	دری ځله یي وویل چي زه به تاته طلاق درکړم نو طلاق واقع سو او که نه؟
۸۶	په خیال کي یي طلاق راغی اوبیایي کرار پرڅبه هم راغی نوآیاطلاق واقع سو؟
۸۶	چي په عقل کي نقصان وي نو طلاق واقع کیږي اوکه نه؟
۸۷	پر طلاق باندي صرف په دستخط کولوسره طلاق واقع کیږي اوکه نه؟
۸۷	شراب یي ورباندي وڅیښل اوپه بي خبری کي یي پرساده کاغذ په ده ګوته ولګوله او بیایي پرهغه کاغذ طلاقنامه ولیکله نو په دي اړه څه حکم دی؟
۸۸	دبیري له وجهي یي په عدالت کي له نکاح انکار وکی نو په دي سره طلاق واقع نه سو
۸۹	عمر یي پنځلس کاله دی خو پر کوروالي قادر نه دی نو دده طلاق به واقع وي اوکه نه؟
۸۹	دنابالغ طلاق په کم صورت کي جائز دی؟ او دضرورت څخه څه مراد دی؟
۹۰	دنابالغ طلاق نه واقع کیږي او نه دهغه دمور او دپلار
۹۱	نابالغ هلك یا دهغه پلار طلاق ورکولای سي اوکه نه؟
۹۱	دنابالغ ښځي ته دطلاق ورکولو څنګه صورت دی؟
۹۲	دنابالغ دطلاق چي کمه تذکره داصول فقه په کتابونو کي ده دهغه مرادڅه دي؟
۹۳	دمراهق طلاق واقع کیږي اوکه نه؟

دفهرست پای

بسم الله الرحمٰن الرحيم

الحمد لله وكفٰى وسلام علىٰ عباده الذين اصطفىٰ.

دفتاوى دارالعلوم ديوبند نهم ټوك چي كله دفضيلت اوكمال دخاوندانو، علماؤ اومشائخو او عامو مسلمانانو په خدمت كي وړاندي كوي، نو دخاكسار مرتب زړه دحمد او دشكر څخه ډك دى چي رب العالمين ﷻ خپل يو بې سرمايې بنده ته دعلمي او ديني خدمت توفيق وروبخښى او په كاميابى سره يې سرته ورسوى.

دفتاوى لومړني جلدونه درې ځلي چاپ سويدي، ددې څخه دا اندازه هم معلوميږي چي په خواصو اوعوامو كي دا سلسله قبوله ده او هغوى ددې څخه پرلپسې ګټه ترلاسه كوي ، يقيناً چي دا ټوله ددار العلوم ديوبند فيض او بركت دى.

ستاسي په لاس كي دا جلد دطلاق پر مسئلو اواحكامو باندي مشتمل دى، او دا ښكاره ده چي دلمانځه او روژې څخه وروسته دنكاح او طلاق مسئلې داسي دي چي دهغو په عمومي ډول ډيره اړتيا پېښيږي، اميد دى چي داجلد به هم ان شاء الله دمخكنيو هغو په شان لاس پر لاس سي.

داسي يو انسان څوك دى چي دهغه څخه غلطي نه كيږي، او مرتب خاكسار خو ديوې كښتي درجې طالب العلم دى دده څخه كه غلطي وسي نو څه دتعجب خبره نه ده، نور مي تر خپله وسه پوري دفتاوى په ترتيب، دمكرراتو په لېري كولو، دحوالو په پلټنه او پيدا كولو، او دكتابت او طباعت په نګراني كي كوتاهي نه ده كړې، دعلماؤ څخه درخواست دى چي كه يو ځاى څه غلطي په نظر ورسي بې له ځنډه دي خبر راكړي ترڅو په راتلونكو چاپونو كي دهغه تصحيح وكړو.

په اخيركي ددې ځانګي دسرپرست سيدي حكيم الاسلام حضرت مولانا القاري محمد طيب صاحب مدظله العالي مهتمم ددارالعلوم ديوبند، خپل مهربانه استاذان، او دشورىٰ دغړيو په بركتمن خدمت كي دمننې او كوروداني تُحفه ډالۍ كول خپله فريضه ګڼم ځكه چي ددوى دپاملرنو، دعاؤ، او حوصله افزايي په بركت سره دا خدمت سرته رسيږي، الله تعالى ﷻ دي دخاكسار دا كوچنۍ خدمت قبول وګرځوي، اوددنيا او آخرت دكاميابيو او لاس ته راوړونو څخه دي نفعمند وګرځوي، ربنا تقبّل منّا انك انت السميع العليم.

ددعا غوښتونكى

محمد ظفير الدين غفر له

۱۵ ذي القعده كال ۱۳۹۴ هـ دار العلوم ديوبند

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ

الحمد لله رب العالمين، والصلوة والسلام علىٰ سيّد المرسلين وعلىٰ آله وصحبه اجمعين.

كتاب الطلاق

باب اول: دطلاق واقع كيدو شرطونه، طلاق كله او ولې ورکول سي، او دچا طلاق واقع كيږي او دچا دا نه؟

ښځه كله دطلاقومطالبه كولی سي؟ سوال: (١) ښځه په کم صورت کی طلاق طلبولی سی؟

جواب: چې دښځې او دخاوند په مينځ کی نا اتفاقي وی اوبل څه صورت دموافقت نه وی او دطرفينو حقونه نه سی اداء کيدی نوښځه طلاق طلبولی سی اوخلع کولی سی ([1]) خو په دې کی دښځې هيڅ اختيار نسته سړی ته اختيار دی چې دی طلاق ورکوی اوکه نه؟ او خلع کوی اوکه نه ([2]).

چې دښځې او دخاوند تعلق ښه نه وی نو څه حکم دی؟ سوال: (٢) په زوجينو کی اتفاق نسته نوڅه کول په کاردی؟

جواب: خاوند لره په کار دی چې اتفاق راولی کنې نو طلاق دی ([3]).

صرف په زړه کی په خيال راتلو سره چې درې طلاقه مې ورکړل طلاق نه دی واقع: سوال: (٣) محمد ابراهيم يوه ورځ دخپلې بی روزګاری څخه تنګ سو نو خيال يې وکړی چې زه خو داسې تنګ دسته يم او دخپل ځان سره دخپلې ښځې حالت هم تباه کوم ما ناحقه خپل واده وکی په دی سره يې په زړه کی خيال راغی چې دری طلاقه مې ورکړل خو په ژبه يې څه نه دی ويلی اونه دده نيت دطلاقو وو، چې کله يې زړه ته داخيال راغی نو سمدستی يې په ژبه استغفار او لاحول وويل خو شيطانی خيال دی چې بيا يې هم دا په فکر کي راځي چې ما طلاق ورکړی دی خو په ژبه يې څه خبــره نه ده ويلی نو په دی خيال سره په

([1]) ولا باس به عند الحاجة للشقاق بعد الوفاق بما يصلح للمهر (درمختار) اى بوجود الشقاق وهو الاختلاف والتخاصم وفى القهستانى عن شرح الطحاوى السنة اذا وقع بين الزوجين اختلاف أن يجتمع أهلهما ليصلحوا بينهما فإن لم يصطلحا جاز الطلاق والخلع آه وهذا هو الحكم المذكور في الآية (وان خفتم شقاق بينهما فابعثوا حكما من اهله وحكما من اهلها ان يريدا اصلاحا يوفق الله بينهما) النساء (ردالمحتار باب الخلع ج٢ ص٧٢٧، ط. س. ج٣ ص ۴۴۱). ظفير

([2]) فان خفتم الا يقيما حدود الله فلا جناح عليهما فيما افتدت به تلك حدود الله فلا تعتدوها، البقرة ٢٩. ظفير

([3]) الطلاق مرتان فامساكم بمعروف اوتسريح باحسان (البقرة: ٢٩) وأما سببه فالحاجة إلى الخلاص عند تباين الأخلاق وعروض البغضاء الموجبة عدم إقامة حدود الله تعالى الخ ويكون واجبا اذا فات الامساك بالمعروف (البحر الرائق كتاب الطلاق ج٣ ص٢٥٣). ظفير

نکاح کی خو څه خلل نه راځی؟

جواب: په صحیح حدیث شریف کی دی: ان الله تجاوز عن امتی ما وسوست به صدورها ما لم تعمل بها او تتکلم بها رواه الشیخان (۱). نومعلومه سوه چی په دی صورت کی دمحمد ابراهیم پر ښځه طلاق واقع نه دی (۲).

چی کله دښځی خبر نه سی اخیستی نو طلاق ورکول واجب دی: سوال: (۴) یو سړی چی دملکیت خاوند دی اوخپله ښځه یې دکور څخه ایستلی ده او خرچه هم نه ورکوی اوس دا ډیره په سختي ژوند تیروی مذکور سړی خپل ملکیت دبلی په نوم کړیدی نوددی وجه څخه په ذریعه دانګریزی عدالت هم څه مقدمه نه سی کیدی نواوس داښځه په دی بی وسه حالت کی دطلاقو حقداره ده اوکه نه هم داسی په دی سختي او بی کسی کی خپل روح الله تعالی ته وسپاری، که څه صورت دطلاق کیدی سی نو وې لیکی!

جواب: په دی صورت کی بی شکه دخاوند پرذمه لازم دی چی کله دی امساك بالمعروف نه کوی او خپلی ښځی ته نفقه نه ورکوی او ددی حقونه نه اداء کوی نودی ته دی طلاق ورکړی او ددی مصیبت څخه دی دا خلاصه کړی. قال الله تعالی: فامساكٌ بمعروف او تسریحٌ (۳) باحسان، اوپه درمختار کی دی: ویجب لو فات الامساك بالمعروف الخ (۴)، نومعلومه سوه چی په داسی حالت کی به خاوند مجبوره سی پرطلاق ورکولو باندی (۵)، خو ښځه په خپله بی له طلاق ورکولو دخاوند نه سی جلا کیدی اونه تفریق کولی سی. قال فی الدرالمختار: ولا یفرق بینهما بعجزه عنها الخ ولا بعدم ایفائه الخ حقها الخ (۶).

چی داواز پرده نه کوی نو طلاق باید ورکول سی اوکه نه؟ سوال: (۵) دیو سړی ښځه خو لمونځ کوی خو په محبت یې نه کوی او دنامحرمه داواز پرده نه کوی نو داسی ښځی ته خاوند طلاق ورکړی اوکه څنګه؟

---

(۱) مشکوٰة باب الوسوسة ص ۱۸، الفصل الاول. ظفیر

(۲) فقد افاد ان رکنه (ای الطلاق) اللفظ الدال علی ازالة حل المحلیة (البحر الرائق کتاب الطلاق ج۳ ص۲۵۲) وشرعًا رفع قید النکاح الخ به لفظ مخصوص هو ما اشتمل علی الطلاق الخ ورکنه لفظ مخصوص (درمختار) واراد اللفظ ولوحکما لیدخل الکتابة المستیقنة واشارة الاخرس الخ (ردالمحتار کتاب الطلاق ج۲ ص۵۷۰ – ۵۷۴. ط. س. ج۳ ص۲۲۲ – ۲۲۷). ظفیر

(۳) البقرة ۲۹. ظفیر

(۴) الدرالمختار علی هامش ردالمحتار کتاب الطلاق ج۲ ص ۵۷۲، ط. س. ج۳ ص ۲۲۹. ظفیر

(۵) ولذا قالوا اذا فاته الامساك بالمعروف ناب القاضی منابه فوجب التسریح باحسان (البحرالرائق کتاب الطلاق ج۳ ص۲۵۵). ظفیر

(۶) الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب النفقة ج۲ ص۹۰۳ مطلب فسخ النکاح بالعجز عن النفقة ط. س. ج۳ ص۵۹۰. ظفیر

جواب: داسی ښځې ته دطلاق ورکولوحکم نسته ([1]) دخاوند پرذمه دې ته صرف نصیحت کول دی او چې دا لمونځ کوی دادی غنیمت وګڼي په لمونځ کولو سره به یې محبت هم پیدا سی اوزیاته سختی دی نه کوی او داواز داسی سخته پرده نسته بلکه دضرورت په وخت دنامحرم سره خبری کول صحیح دی کذا فی الشامی ([2]).

ښځه دشریعت تابعه نه ده نوطلاق ورکول څنګه دی؟ **سوال**: (۶) که یوه ښځه دهر قسم پوهولو سره سره خپل اخلاق او اعمال صحیح نه کړي او دکفر او دشرك رسمونه اوخبری نه پریږدي او ددی خاوند متبع دشریعت وي اوده ته دخپلی ښځې څخه صرف په دی خبره خفګان دی نو آیا دی طلاق ورکولی سی؟

جواب: طلاق ورکول په داسی صورت کې واجب نه دی خو که طلاق ورکړي نوصحیح دی خو ښه داده چې دی دا پوهه کړي او طلاق دی نه ورکوی ([3]).

دمرګ دبیری څخه یې طلاق ورکی نو ددی څه حکم دی؟ **سوال**: (۷) یوسړی خپل ورور ووهی چې ته ښځې ته طلاق ورکړه اوده دخپل ځان دبیری څخه خپلی ښځې ته طلاق ورکړی نوپه دی صورت کې طلاق واقع سو اوکه نه؟

جواب: په دی صورت کې طلاق واقع سو ځکه چې عند الحنفية په اکراه سره هم طلاق واقع کیږی کذا فی الدر المختار ([4]).

په شرعي او بدعي طلاق کې فرق سته اوکه نه؟ **سوال**: (۸) شرعي او بدعي طلاق، دغیر شرعي طلاق تعریف دفقهاؤ په نزد څه دی؟ او ددواړو حکم یو دی اوکه فرق سته؟ پردی یو بنګالی مولوي داجواب ولیکی چې دهغه خلاصه داده چې که دری طلاقه بدعی وی

([1]) الاصح خطره الا لحاجة الخ بل يستحب لو موذية او تاركة صلاة ومفاده لا اثم بمعاشرة من لاتصلى (الدر المختار على هامش ردالمحتار كتاب الطلاق ج۲ ص۵۷۱، ط. س. ج۳ ص۲۲۷). ظفير

([2]) خلا الوجه والكفين الخ وصوتها على الراجح (درمختار) قوله صوتها معطوف على المستثنى يعنى انه ليس بعورة الخ فانا نجيز الكلام مع النساء للاجانب ومحاوراتهن عند الحاجة الى ذالك ولا نجيز لهن رفع اصواتهن وتمليطها ولا تليينها الخ (ردالمحتار باب شروط الصلاة مطلب فى ستر العورة ج۱ ص۳۷۲، ط. س. ج۱ ص۴۰۵). ظفير

([3]) وقولهم الاصل فيه اى فى الطلاق الحظر معناه ان الشارع ترك هذا الاصل فاباحه بل يستحب لو موذية او تاركة صلاة ومفاده ان لا اثم بمعاشرة من لا تصلى (الدرالمختار على هامش ردالمحتار كتاب الطلاق ج۲ ص۵۷۱ – ۵۷۲، ط. س. ج۳ ص۲۲۹) لا يجب على الزوج تطليق الفاجرة ولا عليها تسريح الفاجر الا اذا خافا ان لا يقيما حدود الله فلا باس ان يتفرقا (ايضا فصل فى المحرمات ج۲ ص۴۰۲، ط. س. ج۳ ص۵۰). ظفير

([4]) ويقع طلاق كل زوج عاقل بالغ ولو عبدا او مكرها فان طلاقه صحيح لا اقراره بالطلاق (درمختار) وفى البحر ان المراد الاكراه على التلفظ بالطلاق فلو اكره على ان يكتب صلاة امراته فكتب لا تطلق (ردالمحتار كتاب الطلاق ج۲ ص ۵۷۹ ، ط. س. ج۳ ص ۲۳۵). ظفير

نو دحلالي ضرورت نسته، تجدید دنکاح کافي دی پردی حضرت مفتی صاحب تحریر وکی.

جواب: اقول قال فی الدرالمختار والبدعی ثلاث متفرقة او ثنتان بمرة او مرتین فی طهر واحد لا رجعة فیه الخ قال شارحه العلامة الشامی قوله ثلث متفرقة وکذا بکلمة واحدة بالاولٰی وعن الامامیة لا یقع بلفظ الثلاث ولا فی حالة الحیض لانه بدعة محرمة وعن ابن عباس ﷺ یقع به واحدة الخ وذهب جمهور الصحابة والتابعین ومن بعدهم من ائمة المسلمین الٰی انه یقع ثلث (الی ان قال) وقد ثبت النقل عن اکثرهم صریحا بایقاع الثلث ولم یظهر لهم مخالف فماذا بعد الحق الا الضلال ([1]) الی اٰخر مانقل عن الکمال ابن الهمام صاحب فتح القدیر فعلم ان الطلاق والبدعی ایضا واقع ومن طلقت ثلثا بالطلاق البدعی فقد حرمت علی الزوج بالحرمة الغلیظة حتٰی لا تحل له حتٰی تنکح زوجاً غیره کما قال الله تعالٰی: فان طلقها فلا تحل له حتٰی تنکح زوجا غیره ([2])، فهذه الاٰیة باطلاقها تدل علی ان المطلقة الثلاثة بای وجه کان لا تحل للزوج الاول حتٰی تنکح زوجا غیره هذا. فقط

<u>چې کمه ښځه دخپل خاوند دپلار عزت نه کوی او پلار خپل زوی ته دطلاق ووايي نوڅه حکم دی؟</u> **سوال**: (۹) زما ښځه دپلار ډیره بی عزتی کوی اوپلار ما مجبوره کوی چی ته دوهم واده وکړه اودی ښځې ته طلاق ورکړه دشپږو میاشتو راهیسی ما راوستلی ده او دخپل ورور کره اوسیږی اوزه څه خرڅ وغیره دې ته نه ورکوم که طلاق ورکړم نوپلار می زما څخه خوشحاله کیږي کنې نو خفه دی او ښځه می دبدکلامی څخه بالکل نه بندیږی نو په دی صورت کی شرعا څه حکم دی اودطلاق ورکولو څه ترتیب دی؟

جواب: په داسی حالت کی ښځې ته طلاق ورکول صحیح بلکه مناسب دی ([3]) اودطلاق ورکولو ښه صورت دادی چی دابنځه پاکه وی یعنی ددی حیض نه وی نو دغه وخت دي طلاق ورکول سی یعنی چی دی ښځې ته داسی وویل سی چی ما تاته یوطلاق درکی ([4]).

<u>دانګریزی جامو دوجه طلاق ضروری نه دی</u>: **سوال**: (۱۰) یوه ښځه انګریزی جامی اغوندی نو که دا انګریزی جامی پرې نږدی نودې ته طلاق ورکول لازم دی اوکه نه؟

جواب: ددی وجه څخه طلاق ورکول نه دی په کار ([5]).

([1]) ردالمحتار کتاب الطلاق ج۲ ص۵۷۶ – ۵۷۷، ط. س. ج۳ ص ۲۳۲ – ۲۳۳. ظفیر

([2]) سورة البقرة : ۲۹. ظفیر

([3]) وایقاعه ای الطلاق مباح بل یستحب لو موذیة (درمختار) قوله لو موذیة اطلقة فشمل المؤذیة له اولغیره بقولها او بفعلها (ردالمحتار کتاب الطلاق ج۲ ص۵۷۱ – ۵۷۲، ط. س. ج۳ ص ۲۲۹). ظفیر

([4]) ورکنه لفظ مخصوص خیال عن الاستثناء طلقة رجعیة فقط فی طهر لا وطئ فیه وترکها حتٰی تمضی عدتها احسن (الدرالمختارعلی هامش ردالمحتار کتاب الطلاق ج۲ ص۵۷۴ – ۵۷۵. ط. س. ج۳ ص۲۳۰ – ۲۳۱). ظفیر =

دپاګل طلاق نه واقع کیږي: **سوال**: (۱۱) یو سړی دی که دهغه پرتندی څوك لاس کښیږدی نوواېي چی ده په ماجادو وکی اوکه دده مخ ته څوك اوبه توی کړی نوواېي چی جادو یې وکی، دده کوروالاوو دپیدایښت دورځي خوشحالي جوړه کړه نو دی واېي ګوری جادو یې وکی که دده ښځه ده ته راوستل سی نودی خوراك چیښناك بالکل نه ورکوی اوکه دده دښځی مخ ته پیشی یا سپی تیر سی نوښځه وهی اوټکوی او دشپی په کټ کی سجده کوی اولمونځ هم په کټ کی کوی اوکه یو شی یې په آسمان کی په نظر راغی نوواېی ګوری جادو راغی اوکور والا وهی، آیا دامذکوره سړی دیوانه دی اوکه نه؟ نوکه ده ته دیوانه وویل سی نو دده طلاق به واقع وی اوکه نه؟

جواب: داسی خبری وهمی سړی کوی ددی وجه څخه ددی خبرو دوجه به ده ته مجنون نه ویل کیږی اوکه دده په ټولو حرکتونو اوکارونو سره دده مجنون کیدل اولیونی کیدل خلګو ته معلومه سوه نودغه وخت به ده ته مجنون او لیونی وویل سی اوپه شریعت کی دمجنون او دلیونی طلاق نه واقع کیږی (۱) اوچی کم مجنون نه وی صرف وهمی اوکم عقل وی نودده طلاق به واقع کیږی (۲). قال ﷺ رفع القلم عن ثلثة وعد منهم المجنون. الحدیث (۳).

چی دښځی نفرت وی نو په طلاق ورکولو کی څه ګناه نسته: **سوال**: (۱۲) خاوند چی دښځی سره څومره محبت کوی نوښځه ورته دومره دنفرت په نظر ګوری او تښتی او په سختیا کولو باندی ورځ په ورځ خفګان زیاتیږی نوکه خاوند طلاق ورکړی نو ددی څه ګناه سته اوکه نه؟

جواب: چی کله دیو ځای اوسیدو او داتفاق څه صورت نه وی نو سړی طلاق ورکولی سی او په دی باره کی پرده څه ګناه نسته بلکی هم دا طریقه ښه ده (۴).

---

(۱) قیل الاصح حظره ای منعه الا لحاجة الخ ومفاده ان لا اثم بمعاشرة من لا تصلی (الدرالمختار علی هامش رد المحتار کتاب الطلاق ج۲ ص۵۷۱ - ۵۷۲. ط. س. ج۳ ص۲۲۷) جامه چی پرده پوښه وی نو په دی کی څه مخصوص جوړول او ګنډل منصوص نه دی چی ددی دوجه تعلقات ګډوډ سی. ظفیر

(۱) لا یقع طلاق المولی علی امراة عبده والمجنون الخ والصبی ولومراهقا (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار کتاب الطلاق ج۲ ص ۵۸۵ - ۵۸۲، ط. س. ج۳ ص ۲۴۳ - ۲۴۲). ظفیر

(۲) یقع طلاق کل زوج بالغ عاقل ولوعبدا اومکرها اوسفیها خفیف العقل (ردالمحتار ایضا ج۲ ص۵۸۲، ط. س. ج۳ ص ۲۳۵). ظفیر

(۳) مشکوٰة باب الخلع والطلاق فصل ثانی ص۲۸۴ وسنن ابن ماجه باب طلاق المعتوه ص ۱۴۸. ظفیر

(۴) فی القهستانی عن شرح الطحاوی السنة اذا وقع بین الزوجین اختلاف ان یجتمع اهلهما لیصلحوا بینهما فان لم یصطلحا جاز الطلاق والخلع (ردالمحتار باب الخلع ج۲ ص۷۶۷، ط. س. ج۳ ص۴۴۱) بل یستحب الطلاق =

صرف په تحریری طلاق سره هم طلاق واقع کیږی: **سوال:** (۱۳) کریم گوجر خپلی ښځی مدخوله منکوحی ته په خپله تحریری طلاق ولیکی خو په ژبه یی څه ونه ویل نو په دی صورت کی طلاق واقع سو اوکه نه؟

جواب: تحریری طلاق هم واقع کیږی په خپله دې ولیکی یاپه بل چادی ولیکی ددی څخه هم طلاق واقع کیږی، کذا فی الشامی (۱).

صرف دخیال په تسلط سره طلاق نه واقع کیږی: **سوال:** (۱۴). یوسړی ته دزړه خیال پیداسو چی که دبکر سره خبری وکړم نوزما ښځی ته دری طلاقه اوس دده دا حالت دی چی که ساه اخلی نو معلومیږی چی د (طلاق می ورکی) لفظ ووتی په توکلو او په گوله تیرولو دژبی څخه دا اواز محسوسیږی چی (طلاق می ورکی) وایی، آیا په داسی صورت کی طلاق واقع سو اوکه نه؟

جواب: په دی واقع کی په هیڅ صورت کی طلاق نه دی واقع اوصرف په لفظ د (طلاق می ورکی) په طریقه دتذکره ویلو سره چی دده نیت خپلی ښځی ته دطلاق ورکولو نه وی نوطلاق نه واقع کیږی (په سوال کی چی څومره الفاظ دی نو دا پر وهم دلالت کوی او په خیال او په وسوسی سره طلاق نه واقع کیږی، ظفیر).

صرف په خیال راتلو سره طلاق نه کیږی: **سوال:** (۱۵) که یوسړی ته صرف په زړه کی خیال پیداسی چی که ما دوهم واده وکی نوپر دې درې طلاقه دی نوپه دی صورت کی پر دوهمه ښځه طلاق واقع دی اوکه نه؟

جواب: په دی صورت کی پردی ښځی طلاق نه واقع کیږی (۲).

په دی ویلو سره چی طلاق اچول غواړی طلاق نه واقع کیږی: **سوال:** (۱۶) که خاوند خپلی ښځی ته صرف دا لفظ ووایی چې (آیا طلاق اچول غواړی) نو په دی ویلو سره دده پر ښځی به طلاق واقع وی اوکه نه؟

= لوموذیة (درمختار) اطلقه فشمل الموذیة له او لغیره بقولها او بفعلها (ردالمحتار کتاب الطلاق ج۲ ص۵۷۲، ط. س. ج۳ ص ۲۲۹). ظفیر

(۱) کتب الطلاق ان مستبینا علی نحو لوح وقع ان نوی وقیل مطلقا (درمختار) لوقال للکاتب اکتب طلاق امراتی کان اقرارا بالطلاق وان لم یکتب (ردالمحتار کتاب الطلاق ج۲ ص۵۷۹، ط. س. ج۳ ص ۲۴۲). ظفیر

(۲) عن ابی هریرة ﷺ قال قال رسول الله ﷺ ان الله تجاوز عن امتی ما وسوست به صدورها ما لم تعمل به او تتکلم متفق علیه (مشکوٰة باب الوسوسة فصل اول ص ۱۸) ورکنه ای رکن الطلاق لفظ مخصوص (درمختار ج۳ ص۲۳۰) هو ما جعل دلالة علی معنٰی الطلاق من صریح او کنایة الخ واراد اللفظ ولو حکما (ردالمحتار ط. س. ج۳ ص۲۳۰ کتاب الطلاق ج۲ص۵۷۴) لو کرر مسائل الطلاق بحضرة زوجة ولا ینوی لاتطلق الخ (البحر الرائق کتاب الطلاق ج۳ ص۲۷۸، فتاوٰی شامی ط. س. ج۳ ص۲۹۳). ظفیر

جواب: دخاوند په دومره ویلو سره چی آیا طلاق اچول غواړی، طلاق نه واقع کیږی، هکذا فی عامة کتب الفقه ([1]).

دسړی په شان ښځه هم سړی پریږدی نو دوهم واده کولی سی اوکه نه؟ **سوال**: (۱۷) لکه څنګه چی سړی ته اختیاردی چی ښځه بی رضا ددی په ذریعه دطلاقو دخپلی ښځی والی څخه ایستلی سی نو همداسی ښځه هم چي دخاوند دبدکاری وغیره څخه مجبوره سی بی درضامندی دده څخه شرعا دده دښځی والی څخه بېلیدی سی اوکه نه؟ او دوهمه نکاح کولی سی اوکه نه؟

جواب: دطلاق اختیار شریعت صرف سړی ته ورکړیدی او ښځی ته یی دا اختیار نه دی ورکړی په حدیث کی دی: الطلاق لمن اخذ الساق ([2])، وغیره پردی شاهد دی او دآیت شریف: الرجال قواموان علی النساء ([3])، وغیره څخه هم دا ثابتیږی نو ددی وجه څخه داحنافو مفتٰی به مذهب هم دادی چی ښځه په خپل اختیار جدایی نه سی راوستی خو په صورت دناچاقی کي اوچی خاوند شرعی حقونه نه ادا کوی نوسړی ته داحکم دی چی دی خپله ښځه کالمعلقه پرې نه ږدی بلکی یا خودی خبر اخلی کنې نو طلاق دی ورکړی ([4])، او حاکم خاوند پردی مجبورولی سی ([5]).

دښځي په غیر موجودګی کی په طلاق ورکولو سره طلاق کیږی اوکه نه؟ **سوال**: (۱۸) یو سړی خپلی ښځی ته ددی په غیر موجودګی کی طلاق ورکی نوطلاق واقع سو اوکه نه؟

جواب: په دی صورت کی دده پر ښځه طلاق واقع سو ځکه چی دطلاق ورکولو په وخت کي دښځی مخامخ یا خوا ته کیدل ضروری نه دی.

په ټوکو سره یی چی کم دری طلاقه ورکړه نو ددی څخه وروسته رجوع جائز ده اوکه نه؟

سوال: (۱۹) دزید دوست دزید سره دزید دښځی په باره کی ټوقی وکړی او زید هم په ټوقه کی دری واره دا وویل چی طلاق می ورکی طلاق می ورکی طلاق می ورکی، نو مولوی عبدالله ټونکی فتوٰی ورکړه چی طلاق واقع نه دی، اویوبل عالم فتوٰی ورکړه چی

([1]) ددی دپاره وګوری تیره سوی حواله ط. س. ج۳ ص ۲۳۰. ظفیر

([2]) الدرالمختار علی هامش ردالمحتارکتاب الطلاق ج۲ ص **۵۸۵** وابن ماجه ص**۱۵۱**، ط. س. ج۳ ص۲۴۲. ظ

([3]) سورة النساء ۷. ددی څخه علاوه دا آیت: واذا طلقتم النساء فبلغن اجلهن فامسکوهن بمعروف او سرحوهن بمعروف (بقره) ددی څخه معلومه سوه چی حق دطلاقو صرف سړی لره دی. ظفیر

([4]) ویجب ای الطلاق لو فات الامساك بالمعروف (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار کتاب الطلاق ج۲ ص **۵۷۲**. ط. س. ج۳ ص **۲۲۹**). ظفیر

([5]) ولذا قالوا اذا فاته الامساك بالمعروف ناب القاضی منابه فوجب التسریح بالاحسان (البحر الرائق کتاب الطلاق ج۳ ص **۲۵۵**). ظفیر

طلاق واقع سو، خو رجوع کولی سی نوزید رجوع وکړه، اوچی کم وخت زید لفظ دطلاقو ویلی نو په دی کې یې نیت دطلاقو نه وو بلکه دډوقو وو، اوزید دمشکوٰۃ ترجمه وکتله چی په دی کی یې لیکلی دی چی په زمانه درسول الله ﷺ کی به دری واره ویل یووار گڼل کیدل نوددی وجه څخه رجوع جائز ده اوهمدا حال دعمر فاروق ترزمانی پوری وو، نوآیا شرعا رجوع کول دزید دپاره په مسئوله صورت کی جائزدی اوکه نه؟

جواب: چی دمخکی څخه ذکر دزید دښځی وو نو ددی وجه څخه دزید ښځه په مذکوره الفاظو سره په دری طلاقو طلاقه سوه او په صریحو الفاظو کی دنیت ضرورت نسته او دصریح اضافت هم حاجت نسته (۱) بلکه په قرائنو سره واضحه ده چی زید دخپلی ښځی په باره کی ویل طلاق می ورکی اودری واره یی لفظ دطلاقو وویل، او رجوع کول یې صحیح نه دی اونکاح بغیر دحلالی څخه جائزنه ده، کما قال الله تعالیٰ: فان طلقها فلا تحل له من بعد حتیٰ تنکح زوجا غیره (۲). او اجماع داصحابو هم پر دې ده چی مطلقه ثلاثه که په یوه لفظ وی نو بغیر دحلالې څخه نکاح صحیح نه ده (۳).

<u>دتبی په بی هوښی کی په طلاق ورکولو سره به طلاق وی اوکه نه؟</u> سوال: (۲۰) دیوسړی په باره کی دمحلی والا دا دعوٰی کوی چی دوه دری کاله وسوه چی ده خپلی ښځی ته طلاق مغلظ ورکړیدی او بیایی دامطلقه په خپل کور کی وساتله اوژوند تیروی اودا سړی دډیرو ورځو څخه ناجوړی وو اودطلاق ورکولو په وخت کې دی په تبه کی وو اوبعضی شاهدان وایی چی دطلاق ورکولو په وخت دی دتبی دلاسه په لړزان وو، په دوهمه ورځ چی دده څخه پوښتنه وسوه چی تا ولی طلاق ورکی نوده جواب ورکی چی ماڅه ویل او څه می وکړل ماته هیڅ معلوم نه دی زه دتبی په وجه په هوښ کې نه وم نو اوس به دده قول معتبر وی اوکه نه؟ سوال دادی چی تردرو کالو پوری شاهدی نه ورکول اوطلاق نه ښکاره کول بلکی دده سره خوراك چښاك کول اوس طلاق ثابتوی اوکه نه؟

(۱) ویقع بها ای بهذه الالفاظ وما بمعناها من الصریح الخ فلا فرق بین عالم وجاهل (درمختار) ولا یلزم کون الاضافة صریحة فی کلامه (ردالمحتار باب الصریح ج۲ ص۵۹۰، ط. س. ج۳ ص۲۴۸) والحاصل ان قولهم الصریح لا یحتاج النیة (البحر الرائق کتاب الطلاق ج۳ ص ۲۷۸). ظفیر

(۲) سورة البقرة ۲۹۰. ظفیر

(۳) والبدعی ثلاث متفرقة وکذا بکلمة واحدة بالاولی الخ وذهب جمهور الصحابة والتابعین ومن بعدهم من أئمة المسلمین إلی أنه یقع ثلاث الخ وقد ثبت النقل عن أکثرهم صریحا بإیقاع الثلاث ولم یظهر لهم مخالف فماذا بعد الحق إلا الضلال (ردالمحتار کتاب الطلاق ج۲ ص۵۷۶ - ۵۷۷، ط. س. ج۳ ص۲۳۲ - ۲۳۳) وان کان الطلاق ثلثا فی الحرة وثنتین فی الامة لم تحل له حتیٰ تنکح زوجا غیره نکاحا صحیحا ویدخل بها ثم یطلقها او یموت عنها (عالمگیری مصری ج۱ ص۵۰۱ طبع ماجدیة ج۱ ص۴۷۳). ظفیر

جواب: ويجب الاداء بلا طلب الشهادة في حقوق الله تعالٰى ومتٰى آخر شاهد الحسبة شهادته بلا عذر فسق فترد كطلاق امرأة الخ (۱). ددی څخه معلومه سوه چی دطلاقو دشاهدانو بی عذره تاخير كول موجب دفسق اودرد دشهادت دی نوپه دی صورت كی به دشاهدانو شاهدی معتبره نه وی اوخاوند چی كله منكر دی دطلاقو څخه يا دا وايی چی ماته ياد نه دی نوپه دی صورت كی به طلاق ثابت نه وی (۲).

<u>په حالت دحيض كی طلاق واقع كيږی اورجوع كولی سی بلكی واجب ده</u>: سوال: (۲۱) كه يو سړی په حالت دحيض كی خپلی ښځی ته طلاق وركړی نوطلاق واقع سو اوكه نه؟ او رجوع كولی سی اوكه نه؟

جواب: دده طلاق واقع سو او رجوع دده واجب ده كه يوطلاق يی وركړی وی اوپه دری طلاقو دغه ښځه مغلظه ګرځی چي بی له حلالي به ددی سره نكاح جائز نه وی. په در مختار كی دی: او واحدة في حيض موطؤة الخ وتجب رجعتها على الاصح فيه اى فی الحيض رفعا للمعصية الخ (۳).

<u>پلار طلاق نامه وليكله زوی دستخط وكی نوڅه حكم دی</u>؟ سوال: (۲۲) يوسړی پرخپل زوی زور وكی چی خپلی ښځی ته طلاق وركړه او يا ددې سره بل ځای ته ولاړسه زوی وويل چی ته طلاق نامه وليكه طلاق به وركړم پلار طلاق نامه وليكله او زوی ته يی وركړه چی پردی دستخط وكړه زوی طلاقنامه وويله اوپر هغې يی دستخط وكی او په ژبه يی هيڅ هم ونه ويل څو ورځی وروسته زوی وايی چی ما په جبر اوپه اكراه پر طلاقنامه دستخط كړی وو، نوڅه حكم دی؟

جواب: په دی صورت كی طلاق واقع سو اوطلاق دمكره هم واقع كيږی كذا فی الدر المختار (۴) وفي الحديث ثلاث جدهن جد وهزلهن جد (۵). الحديث (خو په مسئوله

---

(۱) الدرالمختار على هامش ردالمحتار كتاب الشهادات ج۴ ص ۵۱۴. ظفير

(۲) لايقع طلاق المولى على امراة عبده الخ والمجنون والمعتوه المغمى عليه والمدهوش والنائم (الدرالمختار على هامش ردالمحتار كتاب الطلاق ج۲ ص۵۸۵ - ۵۸۶، ط. س. ج۳ ص ۳۴۱ - ۳۴۲) ولا يقع طلاق الصبى وان يعقل والمجنون والنائم والمبرسم والمغمى عليه والمدهوش هكذا فی فتح القدير (عالمگيری مصری ج۱ ص۳۷۲، ط. ماجديه ج۱ ص ۳۵۳). ظفير

(۳) الدرالمختار على هامش ردالمحتار كتاب الطلاق ج۲ ص ۵۷۲ ، ط. س. ج۳ ص ۲۳۳. ظفير

(۴) ويقع طلاق كل زوج بالغ عاقل الخ ولوعبدا اومكرها فان طلاقه صحيح اى طلاق المكره (الدرالمختار على هامش ردالمحتار كتاب الطلاق ج۲ ص ۵۷۹ ، ط. س. ج۳ ص ۲۳۵). ظفير

(۵) مشكوٰة باب الخلع والطلاق ص۲۸۴. چی په دغه كی مخ ته ددغه درو صراحت دی: النكاح والطلاق والرجعة (ايضا). ظفير

صورت کی طلاق واقع نه سو ځکه چی په زور او زبردستی سره په ژبه ویلو سره خوطلاق واقع کیږی خوپه زور لیکلو سره طلاق نه واقع کیږی، فقهاؤ ددې صراحت کړیدی: وفی البحر ان المراد الاکراه علی التلفظ بالطلاق فلو اکره علی ان یکتب طلاق امرأته فکتب لا تطلق لان الکتابة اقیمت مقام العبارة باعتبار الحاجة ولا حاجة هنا کذا فی الخانیة. وګوری ردالمحتار کتاب الطلاق ج۲ ص۵۷۹، ظفیر).

بی اجازته ښځه یوځای ولاړه سی نو دیته طلاق ورکول څنګه دی؟ سوال: (۲۳) یوه ښځه بی اجازته دخاوند داوښی سره ولاړه نوخاوند لره طلاق ورکول واجب دی اوکه نه؟

جواب: طلاق ورکول واجب نه دی خوکه طلاق ورکړی نوواقع کیږی ([1]).

ښځی وویل چی ما دخاوند سره تعلق ختم کی زه دده خور او دی زما ورور، نو ددی څه حکم دی؟ سوال: (۲۴) دمطیع الله خان اودده دښځی زمرد بیګم په مینځ کی دلسو دولسو کلو راهیسی ناچاقی ده ښځه دمور او پلار کره اوسیږی مطیع الله خان ددی دراوستلو او درضا کولو دپاره ورغی خو ښځه رضا نه سوه او دایی وویل چی دنن څخه ما دمطیع الله خان سره تعلق ختم کی زه دده خور اودی زما ورور دی آیا ښځی ته داحق سته چی خاوند پریږدی اوتعلق ختم کړی اوښځه په دی صورت کی داخیستلو حقداره ده اوکه نه؟

جواب: ښځی ته دا اختیار نسته چی داپه خپل اختیار دخاوند سره دښځی والی تعلق ختم کی، طلاق ورکول اودتعلق ختمولو اختیار خاوند ته دی. کما ورد الطلاق لمن اخو الساق. رواه ابن ماجه ([2])، نوخبره دښځی خطاده او په دی سره تعلق قطع نه سو او طلاق واقع نه سو اودمهرِ مؤجل مطالبه ښځه دطلاق او دمرګ څخه وروسته کولی سی اواوس چی طلاق واقع نه سو اوښځه اوخاوند ژوندی دی نوښځه مطالبه داداء کولو دمهر موجل نه سی کولی ([3]).

په خدای قسم دابه کله هم نه ساتم، په دې ویلو سره طلاق نه راځی: سوال: (۲۵) زید خپله ښځه ووهله او دکور څخه یی وایستله او دایی وویل چي په خدای قسم دابنځه به زه هیڅکله هم ونه ساتم نودځلورو کالو څخه نان او نفقه نه ورکوی نودزید په دی ویلو سره

([1]) ومفاده ان لا اثم بمعاشرة من لاتصلی (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار کتاب الطلاق ج۲ ص۵۷۲، ط. س. ج۳ ص ۲۲۹) لایجب علی الزوج تطلیق الفاجرة (ایضا فصل فی المحرمات ج۲ ص۴۰۲، ط. س. ج۳ ص۵۰). ظفیر

([2]) سنن ابن ماجه باب طلاق العبد ص۱۵۱، دهغه الفاظ دادی: انما الطلاق لمن اخذ بالساق، شامی ج۳ ص ۲۴۲. ظفیر

([3]) الا التاجیل الطلاق اوموت (درمختار) فالمختار انه لا یطالب بالمهر الموجل الی الطلاق (ردالمحتار باب المهر ج۲ ص۴۹۳. ط. س. ج۳ ص ۱۴۴). ظفیر

به آیا دزید ښځه دطلاقو دنیت په باره کی پوښتنه کیږي اوکه نه؟
جواب: په دی صورت کی دزید پر ښځه طلاق واقع نه دی او دنیت دپوښتنی کولو هم ضرورت نسته ځکه چی په صیغه داستقبال کی که په صریح الفاظو سره هم تکلم وکړی نو په دی سره طلاق نه واقع کیږی مثلاً که داسی ووایی چی په خدای زه به تاته یا دیته طلاق ورکوم نو په دی سره طلاق نه کیږی. کذا فی العالمگیریه (۱).

دمور او دپلار په خوښه یی نکاح وکړه خو خوښه یی نه ده نو اوس طلاق ورکولی سی اوکه نه؟ **سوال**: (۲۶) مور اوپلار دزوی نکاح وکړه اوهلك ناراضه دی چی دلته یې مه کوی اوس په دوی دواړو کی ناراضگی ده اوس که دی طلاق ورکړی نوځه ګناه خوبه نه وی؟
جواب: ښه داده چی دمور او دپلار اطاعت وکړی اوطلاق ورنه کړی (۲) خو که دموافقت څه صورت نه وی نوطلاق ورکول جائزدی څه ګناه به په دی کی نه وی (۳).

په زور سره که ښځه دخپل مور او پلار کره راسی نو دا دطلاق وجه نه سی کیدی: **سوال**: (۲۷) که یوسړی دخپل زوی ښځه ووهی او ویی باسی اوچی کم ځای دا اوسیږی هغه ځای ته قلف ولګوی اومذکوره ښځه دمور اوپلار کورته راسی نودا ښځه قابله دطلاق ده اوکه نه؟ دوتلو په وجه دنکاح څخه وزی اوکه نه؟
جواب: چی کله دا په مجبوری دباندي ووتله او دمور او پلار کره ولاړه نو ددی وجه څخه دا ښځه نافرمانه او ناشزه نه سوه شرعاً، ددی وجه څخه مستحقه دطلاق نه (۴) ده او ددی وتلو په وجه پردی طلاق واقع نه سو (۵).

دیوه طلاق څخه وروسته دوهم دریم طلاق کله ورکول سی ؟ **سوال** : (۲۸) داول وار دطلاق

---

(۱) بخلافه قوله کتم لانه استقبال فلم یکن تحقیقا بالتشکیك وفی المحیط لو قال بالعربیة اطلق لایکون طلاقا الا اذا غلب استعماله للحال فیکن طلاقا (عالمگیری مصری ج۱ ص ۲۱۰). ظفیر

(۲) عن ابی الدرداء قال اوصانی رسول الله ﷺ بتسع لا تشرك بالله شیئا واطع والدیك وان امراك ان تخرج من دنیاك فاخرج لهما (الادب المفرد باب بر والدیه ما لم یکن معصیة). ظفیر

(۳) وایقاعه مباح ای ایقاع الطلاق وقیل الاصح حظره الا لحاجة (درمختار ص۲۲۷) لما فیه من کفر ان نعمة الناکح (ردالمحتار کتاب النکاح ج۲ ص۵۷۱، ط. س. ج۳ ص۲۲۸). ظفیر

(۴) فتجب (ای النفقة) الزوجة علی زوجها الخ ولو هی فی بیت ابیها اذا لم یطالبها الزوج بالنقلة به یفتی وکذا اذا طالبها ولم تمنع (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب النفقة ج۲ ص۸۸۹، ط. س. ج۳ ص۵۷۲) ددی څخه معلومه سوه چی کله ده په خپله وایسته نو دښځي هیڅ ګناه نسته هغه بي قصوره ده، لهذا بي له کومي وجي طلاق منع دی: الاصح حظره ای منعه الا لحاجة (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار کتاب الطلاق ج۲ ص۵۷۱، ط. س. ج۳ ص۲۲۷). ظفیر

(۵) الطلاق شرعا رفع قید النکاح الخ بلفظ مخصوص هو ما اشتمل علی الطلاق (درمختار) ای علی مادة ط، ل، ق، صریحا اوکنایة (ردالمحتار کتاب الطلاق ج۲ ص ۵۷۱ ، ط. س. ج۳ ص ۲۲۲). ظفیر

څخه وروسته ددوهم او دریم طلاق ورکولو دپاره دڅومره وقفې ضرورت دی؟

جواب: دمدخوله ښځې طلاق دسنتو موافق دادی چې دیته دری طلاقه په دری طهرو کې ورکړي خوکه دری طلاقه ورکړي نوهم به دری طلاقه واقع سي اوداسی طلاق ورکوونکی به دخلاف سنت دفعل مرتکب سی (۱). فقط

دناجوړی طلاق هم واقع کیږي: **سوال**: (۲۹) یوناجوړی سړی په یووجه دشاهدانوپه مخکی دری طلاقه ورکړل نودا طلاقونه واقع سوه اوکه نه؟ اودوباره دا ساتلی سی اوکه نه؟

جواب: په دی صورت‌کی دری طلاقه واقع سوه (۲) اوبی له حلالی اول خاوند ددی مطلقی ښځې سره نکاح نه سی کولی (۳). فقط

په غصه کی یی بی نیته وویل تاته سل طلاقه، نوڅه حکم دی؟ **سوال**: (۳۰) یوسړی په بحث کی خپلی ښځې ته وویل ما تاته سل طلاقه درکړل اوس داسړی وایی چې ما دغصی په حالت کی بی له نیت دطلاقو څخه دا الفاظ ویلی وه نو طلاق واقع سو اوکه نه؟

جواب: په صریحو طلاقوکی دنیت ضرورت نسته اوبغیر دنیت څخه طلاق واقع کیږی (۴) اودغصی په حالت کی طلاق واقع کیږی بلکی ښکاره ده چې اکثره هم غصه سبب دطلاق ورکولو وی اوپه بعضو کنایاتو کی فقهاء حالت دغضب قرینه دوقوع دطلاق بی له نیته کول دا دلیل کافی ګڼی اوپه شامی کی دغایه حنبلیه څخه نقل کوی اولیکی: ویقع طلاق غضب خلاف لابن القیم وهذا الموافق عندنا (۵). فقط

بی له وجهي طلاق ورکول څنګه دي؟ **سوال**: (۳۱) دیوسړی واده دنهوکالو په عمرکی وسو دفقیری اوپه یو طرف کی دکښېنستو په غرض یی دخپلی ښځې سره مباشرت وکړی او داوولسو کالو په عمر یی طلاق ورکی، په ښځه کی نه څه عیب سته اونه څه داغ نودا

---

(۱) أما الطلاق السني في العدد والوقت فنوعان حسن وأحسن فالأحسن أن يطلق امرأته واحدة رجعية في طهر لم يجامعها فيه ثم يتركها حتى تنقضي عدتها والحسن أن يطلقها واحدة في طهر لم يجامعها فيه ثم في طهر آخر أخرى ثم في طهر آخر أخرى وأما البدعي أن يطلقها ثلاثا في طهر واحد بكلمة واحدة او بكلمات متفرقة الخ فاذا فعل ذلك وقع الطلاق وكان عاصيا (عالمگیری مصری کتاب الطلاق ج۱ ص۳۷۱ – ۳۷۲، ط. ماجدیه ج۱ ص۳۴۸). ظفیر

(۲) ویقع طلاق کل زوج عاقل بالغ ولوعبدا اومکرها الخ اومریضا (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار کتاب الطلاق ج۲ ص ۵۸۵ ، ط. س. ج۳ ص ۲۳۵). ظفیر

(۳) وان کان الطلاق ثلاثا فی الحرة لم تحل له حتی تنکح زوجا غیره نکاح صحیحا ویدخل بها ثم یطلقها او یموت عنها کذا فی الهدایه ولا فرق فی ذلك بین کون المطلقة مدخولا بها اوغیر مدخولا بها کذا فی فتح القدیر (عالمگیری مصری باب الرجعة ج۱ ص ۵۰۱، ط. ماجدیة ج۱ ص ۴۷۳). ظفیر

(۴) لان الصریح لا یحتاج الی النیة (ردالمحتارکتاب الطلاق باب الصریح ج۲ ص۵۹۱، ط. س. ج۳ ص۲۵۰). ظ

(۵) ردالمحتار کتاب الطلاق ص۵۸۷ تحت مطلب فی طلاق المدهوش ط. س. ج۳ ص۲۴۴. ظفیر

سړی ګنهګار دی اوکه نه؟ اودده پر فقیری به دطلاق څه اثر پریوزی؟ اودخط په ذریعه او یوازیوالی کی دطلاقو څه حکم دی؟

جواب: که بی له وجه څخه هم طلاق ورکړی نوڅه ګناه نسته خوبی دڅه وجه څخه طلاق ورکول ښه نه دی، په درمختار کی دی: وایقاعه مباح عند العامة لاطلاق الایات [1]. پر دی شامی نقل کړیدی: لاطلاق قوله تعالٰی فطلقوهن لعدتهن، لاجناح علیکم ان طلقتم النساء. ولانه ﷺ طلق حفصة لا لریبة ولاکبر وکذا فعله الصحابه [2] الخ. نومعلومه سوه چی په مذکوره صورت کی که خاوند دبالغیدو څخه وروسته طلاق ورکړیدی نودده پر ښځی طلاق واقع سو اودطلاق ورکولو والا دګناه مرتکب نه دی اودده په فقیری کی په دی وجه هیڅ فرق رانغی اودخط په ذریعه سره هم طلاق واقع کیږی [3] اوپه یوازی والی کی هم طلاق واقع کیږی که څه هم دخاوند څخه ماسوا بل چاته خبرنه وی.

په حالت دحیض کی یی وویل طلاق طلاق طلاق نو ددی څخه وروسته یی ساتلی سی اوکه نه؟ **سوال:** (۳۲) یوسړی خپلی ښځی ته په حالت دحیض کی په وخت دجګړه کی داوویل تاته طلاق طلاق طلاق، نوپه دی صورت کی طلاق وسو اوکه نه؟ اوخاوند داساتلی سی اوکه نه؟ اوعده به دکله څخه شمارل کیږی؟

جواب: داښځه په دی صورت کی په درو طلاقو طلاقه سوه اوپه حالت دحیض کی طلاق واقع کیږی که څه هم ډیر بد دی [4] اودا بائنه مغلظه سوه اوبی له حلالې داښځه دمخکنی خاونددپاره به حلاله نه وی[5] اوعده دطلاقوبه دوخت دطلاق ورکولوڅخه شماریږی. [6]

---

[1] الدرالمختار علی هامش ردالمحتار کتاب الطلاق ج۲ ص ۵۱۷ ، ط. س. ج۳ ص ۲۲۷. ظفیر

[2] ردالمحتار کتاب الطلاق ج۲ ص۵۷۱. ظفیر

[3] کتب الطلاق ان مستبینا علی نحو لوح وقع ان نوی وقیل مطلقا (درمختار) المراد به فی الموضعین نوی اولم ینوی (ردالمحتار کتاب الطلاق ج۲ ص ۵۸۹، ط. س. ج۳ ص ۲۴۲). ظفیر

[4] والبدعی ثلاث متفرقة (وکذا بکلمة واحدة) فی طهر واحد اوفی حیض موطوئة (الدرالمختار علی هامش رد المحتار کتاب الطلاق ج۲ ص۵۷۲، ط. س. ج۳ ص۲۳۱ - ۲۳۲). ظفیر

[5] وینکح مباینته بما دون الثلاث فی العدة وبعدها بالاجماع لاینکح مطلقة من نکاح صحیح نافذ بها ای بالثلاث حتی یطأها غیره الغ بنکاح نافذ (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب الرجعة ج۲ ص۷۳۸ - ۷۳۹، ط. س. ج۳ ص ۴۰۹). ظفیر

[6] یلزم المراة بعد زوال النکاح (عالمگیری مصری باب العدة ج۱ ص ۵۴۹، ط. ماجدیه ج۱ ص۵۲۲). ظفیر

په استفهام او ددروغو په خبر سره طلاق واقع کیږي اوکه نه؟ سوال: (۳۳) په استفهام او په خبر کاذب سره طلاق واقع کیږی اوکه نه؟ مثلا چا یوسړی ته وویل تا خپلی ښځی ته طلاق ورکړیدی ده وویل هو ورکړی می دی!

جواب: داستفهام په جواب کی دا ویل چی هو! ورکړی می دی یا په دروغ ویلو سره چی ورکړی می دی یعنی که څه هم دروغ وی طلاق واقع کیږی، کذا فی الشامی (۱).

په دوو ثقه شاهدانو سره دطلاقو حکم کول صحیح دي: سوال: (۳۴) دیوی انجلی دواده شپږ کاله وسوه چی یوځای سوی وه، دا انجلی دخپل خاوند کره یو وار ولاړه او بیانه ده تللی اونه ددی خاوند دیته طلاق ورکړی وو اوس دانجلی پلار ددی دوهمه نکاح کړیده هم ددوی په رشته دارانو کی ددرو کسانو شاهدی یی واخیسته او نکاح یی جائزه کړه یعنی ددوو سکه ترونو اویو سکه دعمه دخاوند شاهدی یی واخیسته اونکاح یی جائز کړیده نو په دی صورت کی شرعًا څه حکم دی؟

جواب: که دطلاقو دوه ثقه معتبر شاهدان وی نو دعدی دطلاقو چی دحائضی دپاره دری حیضه دی په پوره کیدو دوهمه نکاح ددی مطلقی ښځی صحیح ده اوداکا اودعمه دزوج شاهدی معتبره او قبوله ده (۲).

دنه خوښیدو په صورت کی ښځی ته طلاق ورکولی سی اوکه نه؟ سوال: (۳۵) که سړی ښځه نه خوښوی که ښځه پرسړی ددرواغو الزام ولګوی چی دهغه په سبب سړی ته نقصان وسی او سړی بد نامیږی او دسړی څه خطاهم نه وی نوپه داسی صورت کی طلاق ورکړی اوکه یی ورنه کړی؟

جواب: که طلاق ورکړی نوصحیح دی (۳) خوښه داده چی طلاق ورنه کړی اوددی قصور معاف کړی. والله تعالٰی اعلم

دحیض او دنفاس په حالت کی هم طلاق کیږي: سوال: (۳۶) که چا په حالت کي دحیض یا دنفاس خپلی ښځی ته یو طلاق یا دری طلاقه ورکړل نو واقع به وی اوکه نه؟

جواب: په دی صورت کی طلاق کیږی خوپه داسی حالت کی طلاق بدعت اومکروه دی اوکه دری طلاقه نه وی نورجوع کول لازم دی (۱) خو ددرو طلاقو څخه وروسته درجوع څه صورت نسته اوبی له حلالی دوباره دامطلقه داول خاوند په نکاح کی نسی راتلی (۲).

---

(۱) لو اقر بالطلاق کاذبا او هازلا وقع قضاء لا دیانة (ردالمحتار کتاب الطلاق ج۲ ص۵۷۹. ط. س. ج۳ ص ۲۳۲). ظ

(۲) وتقبل شهادة الرجل لاخیه وعمه لانعدام التهمة الخ (هدایه ج۳ ص ۱۲۲). ظفیر

(۳) وفی غایة البیان یستحب طلاقها اذا کانت سلیطة مؤذیة (البحر الرائق کتاب الطلاق ج۳ ص ۲۵۵. ط. س. ج۳ ص۲۳۷). ظفیر

په طلاق کې دطاء پرځای تاء یا دقاف پرځای کاف ووایه، نوځه حکم دی؟ **سوال:** (۳۷) دطلاق په لفظونو کې دحرفونو، ط، ت او یا ق، ك هم امتیاز کیدل په کاردی اوکه نه؟

جواب: په دی کی هیڅ فرق نسته په ټولو الفاظو سره طلاق واقع کیږی ([3]).

آیا دطلاق په وخت کی ددوو شاهدانو کیدل ضروری دی په یوازی والی کی طلاق واقع کیږی اوکه نه؟ **سوال:** (۳۸) آیا دطلاق ورکولو په وخت کي دشاهدانو شتون ضروری دی او که یوازي یی هم ورکولی سی؟

جواب: ضروری نه دی طلاق په یوازی والی کی په ورکولو سره هم واقع کیږی ([4]) دشاهدانو شتون دثبوت دطلاق عند القاضی دپاره په وخت دانکار دخاوند ضروری دی.

ددیارلسو کالو دهلک طلاق واقع کیږی اوکه نه؟ **سوال:** (۳۹) هلك کله بالغ کیږی که ددیارلسو کالو هلك خپلی منکوحی ته طلاق ورکړی نو معتبر به وی اوکه نه؟

جواب: که یوه علامه دبلوغ په شان داحتلام وغیره په هلك کی ښکاره نه وی نوفتوٰی پر دی ده چی دپنځلس کالو په عمر پوره کیدو به دی بالغ ګڼل کیږی کذافی الدرالمختار ([5]) نوچی په کم هلك کی څه علامه دبلوغ نه وی اودی ددیارلسو کالو وی نودده طلاق به واقع نه وی ځکه چی دنابالغ طلاق نه کیږی. کذا فی کتب الفقه ([6]).

ویی لیکل چی دمهر دمعافی لیک را ولیږه نو زه به طلاق ولیکم او دروبه یی لیږم، دخاوند جواب رانغی نو څه حکم دی؟ **سوال:** (۴۰) زید هنده دپلار کره پریښووله او ملایا ټاپو ته ولاړی چی دنهو کالو څخه زیات وخت یی وسو په دی دوران کی دی دهندی دنان او نفقه

([1]) وطلاق الموطوئة حائضا بدعی فیراجعها ویطلقها فی طهرتان (البحر الرائق کتاب الطلاق ج۳ ص ۲۵۹، ط. س. ج۳ ص ۲۴۱). ظفیر

([2]) وان کان الطلاق ثلاثا فی الحرة لم تحل له حتٰی تنکح زوجا غیره نکاحا صحیحا ویدخل بها ثم یطلقها او = یموت عنها (عالمگیری مصری کتاب الطلاق باب الرجعة ج۱ ص۵۰۱، ط. ماجدیة ج۳ ص ۴۷۳). ظفیر

([3]) یقع الطلاق بها ای بهٰذه الالفاظ وما بمعناها من الصریح ویدخل نحو طلاع وتلاغ وضلاك وتلاك اوط ل ق او طلا باش بلا فرق بین عالم وجاهل وان قال تعمدته تخویفا لم یصدق قضاءاً (الدرالمختار علی هامش رد المحتار کتاب الطلاق باب الصریح ج۲ ص ۵۹۰ - ۵۹۱، ط. س. ج۳ ص ۲۴۹ - ۲۴۸). ظفیر

([4]) ذهب جمهور الفقهاء من السلف والخلف الی ان الطلاق یقع بدون اشهاد لان الطلاق من حقوق الرجل ولا یحتاج الی بینة کی یباشر حقه ولم یرو عن النبی ﷺ ولا عن الصحابة ما یدل علی مشروعیة الاشهاد، قال الله تعالی: یا ایها الذین آمنوا اذا نکحتم المؤمنات ثم طلقتموهن، وقال الله تعالی: اذا طلقتم النساء فبلغن اجلهن فامسکوهن بمعروف او فارقوهن بمعروف. ظفیر

([5]) بلوغ الغلام بالاحتلام والاحبال والانزال الخ فان لم یوجد فیهما شیء فحتٰی یتم لکل منهما خمس عشرة سنة به یفتی (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار فصل بلوغ الغلام ج۵ ص۱۳۲. ط. س. ج۶ ص ۱۵۳). ظفیر

([6]) ولایقع طلاق الصبی والمجنون والنائم (هدایه کتاب الطلاق ج۲ ص۳۳۷). ظفیر

وغیره خبر نه اخلي اوس زید په ذریعه دخط هندي ته اطلاع ورکړه چې که چیري هنده په ذریعه دخط خپل مهر معاف کړي او ددوو شاهدانو څخه یې دستخط واخیستي او ماته یې را ولیږي نو زه به هندي ته طلاق ورولیږم یعنې ورواستوم لکه چې هندي همداسې وکړل لکه څنګه چې ددوو میاشتو څخه زیاته موده وسوه مګر تراوسه پوری زید هندي ته بیخي جواب ورنه کې نو آیا پرهندي باندي طلاق واقع سو اوکه نه؟

جواب: زید چې څه په خط کې لیکلي دي نو دهغه حاصل دادی چې که چیري هندي دمهر معافي ولیکله اوراوی لیږله نوزه به بیا طلاق ورولیږم (۱) او وروبه یې لیږم اوبیا دغه وعده وسوه چې دزید دطرف څخه دطلاق ورکول دمهر دمعاف کیدلو په بدل کې دی، بیا زید که غواړي چې موافق دخپلي وعدي طلاق ورکړي او وی لیکي اووی لیږي، خوچې ترڅو پوری زید طلاق نه ورکوی نوتر هغه وخته پوری طلاق نه واقع کیږي اونه مهر معاف کیږي ځکه چې دمهر معافي په طلاقو باندي مشروطه ده حاصل داچې بغیر دطلاق ورکولو دزید څخه به طلاق نه واقع کیږي، نو زید ته دي دوباره خط ولیکي او ورودی لیږي چې هغه جواب ورکړي. فقط

دناجوړي په حالت کې یې دري واره وویل چې طلاق مې ورکی نو آیا اوس دیو ځای اوسیدو څه صورت سته؟ **سوال**: (۴۱) زید په حالت دغضب او دناجوړي دتبې او دلرزه کي خپلي ښځي ته دري واره په تکرار دا الفاظ وویل چې ما تاته طلاق درکی آیا دزید ښځه په څه طریقه دده په نکاح کې پاته کیدی سي اوکه نه؟

جواب: په دې صورت کې دزید پر ښځه دري طلاقه واقع سوه (۲) بې له حلالې دزید سره ددې نکاح دوباره نه سي کیدی او کیفیت دحلالې دادی چې طلاقه سوی ښځه دعدې څخه وروسته (عده دطلاق دحائضې دپاره دري حیضه دی) دبل سړي سره نکاح وکړي او دا دوهم خاوند ورته دوطې او دکوروالې څخه وروسته طلاق ورکړي اوبیا دده عده هم تیره سي دغه وخت داول خاوند سره نکاح کولې سي (۳) کما قال الله تعالٰی: فان طلقها فلا تحل له من بعد حتٰی تنکح زوجاً غیره، (۴) الآیة.

---

(۱) ولیس منه اطلقك بصیغة المضارع الا اذا غلب استعماله في الحال کما في فتح القدیر (البحر الرائق باب الصریح). ظفیر

(۲) یقع طلاق کل زوج بالغ عاقل ولو عبدا او مکرها الخ او مریضا (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار کتاب الطلاق ص ۵۷۹ - ۵۸۰، ط. س. ج۳ ص۲۳۵) ویقع طلاق من غضب خلافا لابن القیم (ردالمحتار کتاب الطلاق ج۲ ص۵۸۷، ط. س. ج۳ ص۲۴۴). ظفیر

(۳) وان کان الطلاق ثلثا فی الحرة لم تحل حتٰی تنکح زوجا غیره نکاحا صحیحا ویدخل بها ثم یطلقها او یموت (عالمگیری مصری باب الرجعة ج۱ ص ۵۰۱، ط. س. ج۳ ص ۴۷۳). ظفیر

(۴) سورة البقرة رکوع ۲۹. ظفیر

په يوه جمله کې پردرو طلاقو باندې اجماع ده اوکه نه؟ او دا واقع کيږي اوکه نه؟ سوال: (۴۲) پرطلاقِ ثلاثه جملۀ واحده باندې اجماع سته اوکه نه چې کم سړی داجماع مخالفت وکړي پرده شرعاڅه حکم دی؟ په غصه کې چې عوام الناس اکثره درې طلاقونه اچوي دا واقع کيږي اوکه نه؟

جواب: پردې باندې اجماع ده او مخالف اومنکر ددې اجماع ګمراه دی په فتح القدير کې ددې اجماعي مسئلې دليکلو څخه وروسته ليکې فما ذا بعد الحق الا الضلال ([1]).

دطلاق ورکولو په وخت کې وايي چې مدهوش وو خو دظاهرې علاماتو څخه داسې نه معلوميږي نوڅه حکم دی؟ سوال: (۴۳) چاپه حالت دغضب کې طلاق ورکړی دوو شاهدانو شاهدي وکړه خو دښکاره علاماتو څخه دده مدهوش کيدل نه معلوميږي خو دی دعوٰی دمدهوش کوي په داسې حالت کې به دده قول معتبر وي اوکه دشاهدانو؟

جواب: چې کله دښکاره علاماتو څخه دده مدهوش کيدل معلوم نه دي نو قاضي به دده دقول اعتبار نه کوي خو که دی په خپله پوهيږي او ورته معلومه وي چې زه مدهوش وم او په څه خبر نه وم نو ديانةً به طلاق نه وي واقع ([2]). فقط

دقهرجن طلاق: **سوال**: (۴۴) دغصې والا سړي دظاهرې اقوالو او افعالو څخه مجنونيت معلوميږي نوده ته مدهوش ويل کيږي داحق دی اوکه نه؟ اوکه صرف دده دقول تصديق به وي.

جواب: چې کله دده دظاهرې اقوالو اوافعالو دده څخه مدهوش او مجنون کيدل معلوم وي نو ښکاره ده چې دده دطلاق دوقوع حکم به نه وي او چې کله داسې وي او دی دمدهوش کيدو دعويدار وي نودده قول به معتبر وی کنې نو نه. کذا فی الشامی ([3]).

([1]) والبدعی ثلاث متفرقة وکذا بکلمة واحدة بالاولی الخ وذهب جمهور الصحابة والتابعين ومن بعدهم من ائمة المسلمين الی انه يقع ثلاث الخ وقد ثبت النقل عن اکثرهم صريحا بايقاع الثلاث ولم يظهر لهم مخالف فماذا بعد الحق الا الضلال وعن هذا قلنا لو حکم حاکم بانها واحدة لم ينفذ حکمه لانه لا يسوغ الاجتهاد فيه (رد المحتار کتاب الطلاق ج۲ ص۵۷۲ – ۵۷۷، ط. س. ج۳ ص ۲۴۱ – ۲۴۲). ظفير

([2]) لا يقع طلاق المولی علی امرأة عبده والمجنون والصبی والمعتوه والمغمٰی عليه والمدهوش والنائم لانتفاء الارادة (درمختار) علی ثلثة اقسام احدها ان يحصل له مبادی الغضب بحيث لايتغير عقله ويعلم مايقول ويقصده وهذا الاشکال فيه (ای نفذ طلاقه) الثاني ان يبلغ النهاية فلا يعلم ما يقول ولا يريده فهذا لا ريب انه لا ينفذ شيء ای لا يقع طلاقه (ردالمحتار کتاب الطلاق ج۲ ص۵۸۷، ط. س. ج۳ ص۲۴۲). ظفير

([3]) قلت للحافظ ابن القيم الحنبلي رسالة في طلاق الغضبان قال فيها إنه علی ثلاثة أقسام أحدها أن يحصل له مبادئ الغضب بحيث لا يتغير عقله ويعلم ما يقول ويقصده وهذا لا إشکال فيه والثاني أن يبلغ النهاية فلا يعلم ما يقول ولا يريده فهذا لا ريب أنه لا ينفذ شيء من أقواله الثالث من توسط بين المرتبتين بحيث لم يصر کالمجنون فهذا محل النظر والأدلة

دغضب درجې او په دې حالت کې طلاق: **سوال**: (۴۵) دغضب درې درجې دي مبادي، متوسط، انتهاء، په اولو دوو درجو کې دطلاق فتوٰی ورکول صحيح اوحق دي اوکه نه؟

جواب: داحنافو مذهب هم داسې معلومېږي اوعلامه شامي په دې کې څه بحث کړيدی او بيايې پردې اشکال کړيدی اوجواب يې هم ورکړيدی چې خالي داشکاله څخه نه دی (۱).

دکم عقل طلاق به واقع وي اوکه نه؟ **سوال**: (۴۶) يو سړی دی خبری اتری دعقلمندو په شان کوي اوجامې وغيره هم ښه اغوندي خوپه معاملاتو کې ډير تاوان کوي مثلا دپنځلسو شي په پنځو کې خرڅوي اوکه څوك ووايي چې ښځې ته طلاق ورکړه نوکيدی سی چې داسې هم وکړي اوپه لالچ طلاق ورکړي دده طلاق به واقع وي اوکه نه؟

جواب: داسړی ليونی نه دی چې دده طلاق واقع نه سي بلکې دداسې سړي طلاق واقع کيږي (۲). فقط

ددیارلسو څوارلسو کالو دهلک طلاق به واقع وي اوکه نه؟ **سوال**: (۴۷) ديو هلك داتو نهو کالو راهيسې ديوې انجلۍ سره نکاح سويده دهلك عمر اندازتًا ديارلس څوارلس کاله او دانجلۍ عمر شل پنځه ويشت کاله دی، انجلۍ ځانه ده دګناه سخته بيره ده ورباندې، ددې وجه څخه ټول متفق دي چې په دوی کې بايد جدايي وسي او دهلك نکاح دده دښځې دخور سره وسي اومنکوحه انجلۍ طلاقه سي او ددې نکاح ددې ديو همزولي سره وسي شرعا هلك طلاق ورکولی سي اوکه نه؟

جواب: شرعا دبلوغ عمر پنځلس کاله دی که ددې څخه مخکې څه علامت دبلوغ مثلا انزال او احتلام په هلك کې ښکاره سي نو دپنځلس کالو په پوره کيدو به دی بالغ وي او دغه وخت به دده طلاق واقع کيدی سي او ددې څخه مخکې دده طلاق نه واقع کيږي کما صرح به الفقهآء من ان طلاق الصبي غير واقع (۳). درمختار وغيره وفي الحديث رفع القلم عن ثلثة وعد ﷺ منهم الصبي (۴). او دنابالغ دطرفه دده ولي هم طلاق نه سي اچولی نه پلار نيکه، اونه بل ولي عصبه لحديث ابن ماجه: انما الطلاق لمن اخذ الساق.

تدل على عدم نفوذ أقواله اه لكن أشار في الغاية إلى مخالفة الثالث حيث قال ويقع طلاق من غضب خلافا لابن القيم اه وهذا الموافق عندنا لما مر (رد المحتار كتاب الطلاق ج۲ ص ۵۸۷، ط. س. ج۳ ص ۲۴۴). ظفير

(۱) لكن اشار فى الغاية الى مخالفة الثالث حيث قال ويقع طلاق من غضب خلافا لابن القيم (ايضا) ددې څخه په مخکې حاشيه کې دتفصيل څخه معلومه سوه چې دغصې په مبادي کې هم طلاق کيږي اوپه مينځ کې هم خوپه انتهاء کې نه واقع کيږي. ظفير

(۲) ويقع طلاق كل زوج عاقل بالغ ولو عبدا الخ او هازلا او سفيها خفيف العقل (درمختار. ط. س. ج۳ ص۲۳۵) وشرح السفه فى اللغة الخفة وفى اصطلاح الفقهاء خفة تبعث الانسان على العمل فى ماله بخلاف مقتضى العقل (رد المحتار كتاب الطلاق ج۲ ص۵۸۲، ط. س. ج۳ ص ۲۳۹). ظفير

(۳) الدر المختار على هامش رد المحتار كتاب الطلاق ج۲ ص ۵۸۲. ظفير

(۴) مشكوٰة باب الخلع و الطلاق ص ۲۸۴. ظفير

درمختار ([1]) نوچی ترڅو داهلك بالغ سوی نه وی اوطلاق ورنه کړی تردغه وخته پوری دوهمه نکاح ددی منکوحی بالغی انجلی به صحیح نه وی خو دا ټول هلته دی چی ددی نابالغی نکاح دده ولی جائزه کړی وی نودا دولی پراجازه موقوفه ده اوکه ولی نه وی نو باطله ده بیا دطلاقو ضرورت نسته.

جبراً طلاق کیږی اوکه نه؟ **سوال**: (۴۸) یو سړی دیوی کونډی سره نکاح وکړه خو ددی خسر جبراً طلاق ورڅخه واخیستی نو طلاق وسو اوکه نه؟ دوی دواړه بیا په هم دی نکاح کی پاته کیدی سی اوکه نه؟ اورجوع وکړی که دبل سړی سره دنکاح ضرورت به وی؟

جواب: په دی صورت کی طلاق واقع سو ځکه چی په جبر طلاق اخیستو سره هم طلاق واقع کیږی ([2]) خوکه یوطلاق یی ورکړی وی نوپه عده کی دننه داسړی بی له نکاح خپلی ښځی ته رجوع کولی سی ([3]) اوکه عده تیره سویده نو دنکاح جدید سره بیرته راتلی سی دحلالی ضرورت نسته.

په ژبه ویلو سره طلاق کیږی دلیکلو ضرورت نسته: **سوال**: (۴۹) زید هندی ته ددرو سړیانو په مخکی دوه واره طلاق ورکی خو مولوی صاحب وایی چی طلاق به تحریری وی او دا به ښه تصور کیږی او عده به دلیکلو دتاریخ څخه وروسته شروع کیږی نو زید تحریری طلاق هم ولیکی دیوحیض دتیریدوڅخه وروسته زید دوهمه طلاق نامه ولیکله اووروبی لیږله ددی څخه وروسته دهندی وروړ په تجدید دنکاح کولو مجبوره کی نو زید وویل چی دمقرره طلاق څخه زیات سویدی اوس هیڅ هم نه سی کیدی بی له حلالې څخه نه سی جائز کیدی خو مولوی صاحب دتحریر دتاریخ دمخکی او ددوهم طلاق اعتبار وکی او دتجدید دنکاح رایه یی ورکړه پردی بناء تجدید دنکاح وسو، دژبی دطلاق ورکولو دتاریخ څخه به عده وی اوکه دلیکلو دتاریخ څخه او دا تجدید دنکاح صحیح دی اوکه نه؟ آیا په دوی کی باید تفریق وسی؟

جواب: په دی صورت کی طلاق په هغه وخت کي سوی وو چی کله زید په خولی دوه واره طلاق ورکړی وو دا قول غلط دی چی بی له لیکلو دطلاق اعتبار نسته بلکی دژبی طلاق په شریعت کی معتبر دی ([4]) اوعده هم ددغه وخت څخه شروع کیږی چی کم وخت زید

([1]) الدرالمختارعلی هامش ردالمحتارکتاب الطلاق ج۱ص۵۸۵، ط.س. ج۳ص۲۴۲ سنن ابن ماجه ص۱۵۱. ظ

([2]) ویقع طلاق کل زوج بالغ عاقل ولو عبدا او مکرها فان طلاقه ای المکره صحیح (الدرالمختار علی هامش رد المحتار کتاب الطلاق ج۲ ص۵۷۹، ط. س. ج۳ ص ۲۳۵). ظفیر

([3]) اذا طلق الرجل امراته تطلیقه رجعیة او تطلیقتین فله ان یراجعها فی عدتها رضیت بذالك او لم ترض (هدایه باب الرجعة ج۲ ص ۳۷۴). ظفیر

([4]) واذا کان الطلاق بائنا دون الثلث فله ان یتزوجها فی العدة وبعد انقضائها لان حل المحلیّة باق لان زواله =

زيات طلاق ورکړی وو [۱] بيا ديو حيض څخه وروسته چی کله زيد دوهمه طلاق نامه وليکله او ورويی ليږله ددې څخه غرض دزيد انشاء دطلاق جديد وه نودزيد ښځه مطلقه ثلاثه سوه بيا بی له حلالي دزيد سره ددی ښځی نکاح صحيح نه ده او تفريق او جدايي دی وسی لکه چی په خپله دقول دزيد څخه ثابته ده او سره دتصريح دزيد چی دمقرر طلاق څخه زيات سويدی دمولوی صاحب تجديد دنكاح كول اوددی اجازه وركول سخته غلطی [۲] ده خوكه زيد ووايي چی په دوهمه طلاق نامه كی كم طلاق ليكل سويدی ددی څخه هم ددغه مخكی دوو طلاقو خبر وركول مقصود دی انشاء دطلاق جديد مراد نه ده نو بيا به حكم دتجديد دنكاح بغير دحلالی صحيح وی خو چی كله په خپله دقول دزيد څخه انشاء دطلاق ثابته ده نوبيا هيڅ تاويل پاته نه دی. كما فی عامة كتب الفقه.

ماته وويل سول چی په ليكلو سره طلاق نه كيږی ددی وجه څخه ما طلاقنامه وليكله څه حكم دی؟ **سوال**: (۵۰) ماخپله مخطوبه پرينښووله اوبل ځای می نكاح وكړه خو زما مخطوبه ددی سره هم زما په انتظار كی ناسته وه آخر دخلكو په بيا بيا ويلو سره دنكاح تياری وسوه خوپه عين موقع دنكاح ددی پلار وويل چی مخكی ښځی ته طلاق وركړه زه سخت خفه سوم اوصفا انكار می وكی يوه ورځ يو مولوی وويل چی ته كاغذ وليكه نو ددوی خوله به بنده سی اووخت به تيرسی اوصرف په ليكلو سره طلاق نه كيږی ترڅوچی په ژبه ونه وايي دمولوی په ويلو زما يقين وسو چی صرف په ليكلو به طلاق نه كيږی مولوی ويل اوما ليكل او لفظ ددرو طلاقو يی هم وليكی او دښځی نوم وغيره هم، نوپه دی صورت كی طلاق واقع سو اوكه نه؟

جواب: طلاق چی څنگه دژبی په ويلو واقع كيږی نوداسی په ليكلو هم واقع كيږی نوچی كله دی مولوی باقاعده ستا په قلم طلاق نامه وليكله نو ستا پرښځی دری طلاقه واقع سوه دی مولوی تاته دهوكه دركړه لكه چی ددی تحقيق په شامی كی دی چی په كتابت سره هم طلاق واقع كيږی [۳] اوپه حديث پاك دی: ثلث جدهن جد وهزلهن جد، الحديث

معلق بالطلقة الثالثة فينعدم قبله (هدايه باب الرجعة ج۲ ص۳۷۹). ظفير

[۱] ويقع طلاق كل زوج عاقل بالغ اذا كان عاقلا بالغا (هدايه كتاب الطلاق ج۲ ص۳۳۸) فالصريح قوله انت طالق ومطلقة وطلقتك فهذا يقع به الطلاق الرجعی ولا يفتقر الی النية لانه صريح فيه لغلبة الاستعمال (هدايه باب ايقاع الطلاق ج۲ ص۳۳۹). ظفير

[۲] وان كان الطلاق ثلاثا فی الحرة لم تحل له حتی تنكح زوجا غيره نكاحا صحيحا ويدخل بها ثم يطلقها او يموت (عالمگيری مصری ج۱ ص۵۰۱، ط. ماجديه ج۱ ص۴۷۳). ظفير

[۳] كتب الطلاق ان مستبينا علی نحو لوح وقع ان نوی وقيل مطلقا (درمختار) ثم المرسومة لاتخلو اما ان ارسل الطلاق بان كتب اما بعد فانت طالق فكما كتب هذا يقع الطلاق وتلزمها العدة من وقت الكتابة (ردالمحتار =

(۱). ددی څخه معلومه سوه چی په ټوکه او خندا کی هم طلاق واقع کیږی او بی نیته هم صریح طلاق واقع کیږی (۲).

دطلاقنامی مضمون یی باندی ولیکی او په نقل کولو سره طلاق واقع سو: **سوال**: (**۵۱**) زید ته دزید ورور وویل چی خپلی ښځی هندی ته طلاق ورکی زید انکار وکی، ورور خفګان ښکاره کی زید دورور دخفګان دختمولو دپاره وویل چی ته دطلاقنامی مضمون جوړکړه زه به یی نقل کړم نوزید نقل کی اوپه ژبه یی ونه وایه، په داسی صورت کی طلاق واقع سو اوکه نه؟

جواب: په دی صورت کی دزید پرښځی دری طلاقه واقع سوه ځکه چی په صریح الفاظو کی دطلاق دنیت ضرورت نسته اوبل سړی ته په ویلو سره چی ته طلاقنامه ولیکه زه به ددی نقل وکم په دی سره هم طلاق واقع کیږی په حدیث پاك دی: ثلث جدهن جد وهزلهن جد، الحدیث (۳). اوپه شامی کی دی: ولو قال للکاتب اکتب طلاق امرأتی کان اقراراً بالطلاق وان لم یکتب (۴). ص ۴۲۹ جلد ثانی شامی.

ښځی خاوند ته وویل ته زما پلار یی اوزه ستا لور په دی ویلو سره طلاق نه واقع کیږی: **سوال**: (**۵۲**) یوشرابی سړی چی کله یی شراب وچښل اوکورته راغی نوپر ښځی یی سختی وکړه نو دده ښځی دا وویل چي ته زما پلار یی اوزه ستا لور، نو په دی ویلو سره طلاق واقع سو اوکه نه؟

جواب: په دی صورت کی پرمذکوره ښځی طلاق واقع نه سو دښځی په دی ویلو سره چی ته زما پلار یی اوزه ستا لور طلاق ونه سو اوپه دی کی څه ګناه هم نسته خو بیا دی داسی لفظ نه وایی (۵).

دولی طلاق نه واقع کیږی: **سوال**: (**۵۳**) دنابالغ زید نکاح دده ولی دنابالغه قریشیه سره وکړه اوڅو ورځی وروسته دڅه وجه څخه چی لا تراوسه دواړه نابالغ دی دزید ولی قریشیه ته طلاق ورکی دا طلاق جائزدی اوکه نه؟

جواب: دا طلاق نه دی سوی (۶).

= کتاب الطلاق مطلب فی الطلاق بالکتابة ج۲ ص ۵۸۹ ، ط. س. ج۳ ص ۲۴۲). ظفیر

(۱) مشکوٰۃ باب الخلع والطلاق ص ۲۸۴. ظفیر

(۲) ولا یفتقر الی النیة لانه صریح فیه لغلبة الاستعمال (هدایه باب ایقاع الطلاق ج۲ ص ۳۳۹). ظفیر

(۳) مشکوٰۃ المصابیح باب الخلع والطلاق ص ۲۸۴. ظفیر

(۴) ردالمحتار کتاب الطلاق مطلب فی الطلاق بالکنایة ج۲ ص ۵۸۹، ط. س. ج۳ ص ۲۴۲. ظفیر

(۵) طلاق دخاوند حق دی دښځی نه دی نوپه دی الفاظوکی دښځی سره هیڅ هم نه کیږی چی دطلاقوشبهه ورڅخه وسی خو داسی ویل بد زبانی ده او ددی څخه ځان ساتل ضروری دی. ظفیر =

ددولسو كالو دهلک دطلاقو څه حکم دی؟ **سوال:** (**۵۴**) ددولسو كالو هلك خپلی ښځی ته طلاق ورکی علامه دبلوغ انزال وغیره هیڅ ښکاره نه ده نوطلاق وسو اوکه نه؟

جواب: ددولسو كالو دعمر هلك چی دهغه څه علامه دبلوغ دانزال وغیره هم نه وی دده طلاق نه کیږی کما فی الحدیث یرفع القلم عن ثلثة، الحدیث [1] وهکذا فی الدرالمختار [2].

دجذام والا ښځی ته ددباو دوجه څخه طلاق ورکول څنګه دی؟ **سوال:** (**۵۵**) دزید ښځی ته جذام وسو او محلی والا ددی څخه نفرت کوی اوپر زید زور راوړی چی ښځی ته طلاق ورکړه او ددی دلاس خوراك نه خوښوی، داجائز دی اوکه نه؟

جواب: دښځی په جذامی کیدو سره نکاح نه فسخ کیږی او دمحلی والا په جبر باندی طلاق نه سی اچولی او دمحلی والا ددی ښځی دایستلو څه حق نسته خو ددی څخه دی جلا اوسی او ددی دلاس خوراك دی نه کوی داصحیح ده خوخاوند په طلاق ورکولو نه سی مجبورولی اونه دخاوند پرذمه طلاق ورکول ضروری دی خو ددې سره په احتیاط اوسیدل په کاردی او ددی دلاس پوخ کړی خوراك خوړل نه دی په کار، اوکه په توکل علی الله یی وخوری نوڅه ممانعت نسته په دی غرض چی دا امر دخاوند پر طبیعت موقوف دی چی څه دده طبیعت وی نوهغه دی وکړی شریعت دی په یوامر نه مجبوروی.

په زور یی طلاق واخیستی نو وسو اوکه نه؟ **سوال:** (**۵٦**) زید دخپل خسر سره په دارجلنګ کی اوسیدی څلور میاشتی وسوې خپل وطن ته په دی وجه راغی چی دده خسر او دده زوی دواړو قسم قسم پر ده باندې دڅان بیری تیرولی او صرف په یوساده کاغذ یی دزید څخه دستخط واخیستی او ګوته یی ولګوله او طلاق یی باندی واچوی، نوپه داسی حالت کی دزید طلاق ورکول صحیح سوه اوکه نه؟ اودبکر طلاق اخیستل دخپلی بالغی لور دطرفه شرعا جائزدی اوکه نه؟

جواب: که زید مجبوره کړی او په زور یی طلاق باندی ویلی وی او ده په مجبوری خپلی

([2]) ولا یقع طلاق المولی علی عبده لحدیث ابن ماجه انما الطلاق لمن اخذ بالساق (درمختار ط. س. ج۳ ص۲۴۲) کنایة عن ملك المتعة (الدر المختار علی هامش رد المحتار کتاب الطلاق ج۲ ص**۵۸۵**، ط. س. ج۳ ص۲۴۲). ظفیر

([1]) پوره حدیث په دې طریقی سره دی: عن علی ﷺ قال قال رسول الله ﷺ رفع القلم عن ثلثة عن النائم حتٰی یستقیظ وعن الصبی حتٰی یبلغ وعن المعتوه حتی یعقل رواه الترمذی وغیره (مشکوٰة باب الخلع والطلاق ص ۲۸۴). ظفیر

([2]) لایقع طلاق علی عبده الخ والمجنون والصبی ولو مراهقا او اجازه بعد البلوغ (الدرالمختار علی هامش رد المحتار کتاب الطلاق ج۲ ص **۵۸۵** – **۵۸٦**، ط. س. ج۳ ص۲۴۲). ظفیر

ښځې ته طلاق ورکړي وي نوبيا خو دده پرښځې طلاق واقع سو اوس هيڅ نه سي کيدی ځکه چي دمکره طلاق هم عند الحنفية واقع کيږي (۱) اوکه زيد په ژبه طلاق نه وي ورکړي اوصرف په ساده کاغذ يي دزيد څخه دستخط او ګوته لګولی وي او بيايي پردی کاغذ دچا څخه طلاق ليکلی وي نوپه دی صورت کي دزيد پرښځې طلاق ونه سو (۲).

په جبر سره طلاق ورکول هم کيږي: **سوال**: (**۵۷**) ديوسړي واده ديوی ښځې سره وسو مهر پنځه سوه روپۍ اويوه اشرفي مقرر سو ددی ښځې په مهر کي ددی خاوند خپل کور او خپل فصل چي دمهر دقيمت برابر وه وليکې او ددی څخه ځلور پنځه هلکان هم وسوه ددی څخه وروسته ددی مور داخپل کورته بوتله نو چي کله خاوند ديته دراوستلو دپاره ورغی نو انجلي رانغله او دمهر دعوی يي وکړه دانجلي وکيلانو دخاوند وکيلانو ته ښکاره کړه چي طلاق دی واچول سي اومور به مهر معاف کړو خاوند ته دامنظور نه وه خو وکيلانو زور باندی وکی او دده څخه يي پرصلح نامه دستخط وکی او ده په خپلې ژبې سره طلاق ورنه کی په دوهمه ورځ ښځه اجلاس ته ولاړه او پيشکار صلح نامه واوروله اوده څه ونه ويل نو په دی صورت کي ښځه طلاقه سوه اوکه نه؟

جواب: داحنافو په نزد په جبر اوپه اکراه سره هم طلاق کيږي او استدلال يي ددی حديث پاك څخه دی چي: ثلث جدهن جد وهزلهن جد (۳)، الحديث. خوکه خاوند په ژبه طلاق ونه وايي اونور خلګ طلاقنامه وليکي اوجبراً دده څخه دستخط واخلي اوده اقرار نه وی کړی چي داطلاق نامه زما په حکم ليکل سويده نوبيا طلاق واقع نه دی په درمختار کي دي: ويقع طلاق كل زوج بالغ عاقل الخ ولو عبدا او مكرها فان طلاقه صحيح لا اقراره بالطلاق الخ قوله لا اقراره بالطلاق، وفي البحر ان المراد الاكراه على التلفظ بالطلاق فلو اكره على ان يكتب طلاق امرأته فكتب لا تطلق الخ شامی (۴).

دنابالغ طـلاق نه دی سوی او ددی دکوچنی خور واده هم دده سره ونه سو: **سوال**: (**۵۸**) ديو

---

(۱) ويقع طلاق كل زوج بالغ عاقل ولو عبدا او مكرها فان طلاقه صحيح (درمختار ط. س. ج۳ ص ۲۳۵) ای طلاق المكره صحيح (ردالمحتار كتاب الطلاق ج۲ ص۵۷۹، ط. س. ج۳ ص۲۳۵). ظفير

(۲) وفی البحر ان المراد الاكراه التلفظ بالطلاق فلو اكره على ان يكتب طلاق امراته فكتب لاتطلق لان الكتابة اقيمت مقام العبارة باعتبار الحاجة ولا حاجة هنا كذا فی الخانية (ردالمحتار كتاب الطلاق ج۲ ص۵۷۹، ط. س. ج۳ ص۲۳۶). ظفير

(۳) مشكوٰة المصابيح باب الخلع والطلاق ص ۲۸۴، ويقع طلاق كل زوج بالغ عاقل الخ ولومكرها فان طلاقه ای المكره صحيح لا اقراره بالطلاق (الدرالمختار على هامش ردالمحتار كتاب الطلاق ج۲ ص۵۷۹، ط. س. ج۳ ص۲۳۵). ظفير

(۴) وګوره ردالمحتار كتاب الطلاق ج۲ ص۵۷۹، ط. س. ج۳ ص۲۳۵ . ظفير

نابالغ هلك نكاح ديوى انجلى سره وسوه انجلى بالغه سوه اوهلك تراوسه نابالغه دى او دده پلار مړ سويدى دانجلى مور اوپلار هلك را وبولى اودده څخه يى طلاق واخيستى او كشره لور يى ده ته په نكاح كړه نودا جائزده اوكه نه؟

جواب: دنابالغ طلاق نه دى سوى (١) او دده دښځى دكوچنى خور سره نكاح هم ونه سوه (٢). فقط

په لفظ دتلاخ يى طلاق وركى، نو وسو اوكه نه؟ **سوال**: (**۵۹**) يوسړى په حالت دسخت غصه كى خپلى ښځى ته وويل تلاخ مى دركى ما تلاخ دركى تلاخ، په دى صورت كى دانښځه ساتلى سى اوكه نه؟

جواب: په دى صورت كى دده پر ښځى درى طلاق واقع سوه (٣) بى له حلالې دى ددې ښځى سره دوباره نكاح نه سى كولى. فقط

داوولسو كالو دهلک طلاق صحيح دى: **سوال**: (**٧٠**) تقريبا داوولسو كالو دعمر هلك كه خپلى ښځى ته طلاق وركړى نوصحيح دى اوكه نه؟

جواب: دپنځلسو كالو په عمركى شرعا حكم دبلوغ كيږى اوپر دى فتوٰى ده. كذا فى الدر المختار. نو دشپاړسو يا اوولسو كالو په عمركى كه خاوند طلاق وركړى نو واقع به (٤) وى. فقط

په دى ويلو سره طلاق ونه سو چى زه به تا طلاقه نه ساتم: **سوال**: (**٧١**) كه څوك خپلى ښځى ته ووايى چى زه تا نه ساتم نوطلاق وسو اوكه نه؟

جواب: په دى صورت كى طلاق واقع نه سو (٥).

---

(١) لا يقع طلاق الصبى والمجنون والنائم لقوله عليه السّلام كل طلاق جائز الا طلاق الصبى والمجنون ولان الاهلية بالعقل المميز وهما عديم العقل والنائم عديم الاختيار (هدايه كتاب الطلاق ج٢ ص٣٣٨). ظفير

(٢) په قرآنكريم كى حرمت عليكم امهاتكم، چى كم ځاى راغلى دى هلته داهم دى چى: وان تجمعوا بين الاختين (النساء ركوع۴) نوچى كله دمخكى خور نكاح باقى ده نو ددوهمى سره دنكاح دصحيح كيدو سوال نسته. ظفير

(٣) ويقع بها اى بهذه الالفاظ وما بمعناها من الصريح ويدخل نحو طلاع وتلاغ وطلاك وتلاك اوط، ل، ق، او طلاق باش بلا فرق بين عالم وجاهل (درمختار) وقال فى البحر ومنه الالفاظ المصحفة وهى خمسة فزاد على ما هنا تلاق وزاد فى النهر ابدال القاف لا ما قال ط وينبغي ان يقال ان فاء الكلمة اما طاء او تاء واللام اما قاف او عين او غين او كاف اولام واثنان فى خمسة بعشرة تسعة منها مصحفة (ردالمحتاركتاب الطلاق باب الصريح ج٢ ص ۵۹۰ – ۵۹۱، ط. س. ج٣ ص ٢۴٩ – ٢۴٨). ظفير

(٤) وبلوغ الغلام بالاحتلام والاحبال والانزال الخ فان لم يوجد فيهما شىء فحتٰى يتم لكل منهما خمس عشر سنة به يفتى (الدرالمختار على هامش ردالمحتار فصل فى بلوغ الغلام ج۵ ص١٣٢. ط. س. ج٦ ص ١۵٣) ويقع طلاق كل زوج بالغ عاقل (ايضا كتاب الطلاق ج٢ ص ۵٧٩، ط. س. ج٣ ص ٢٣۵). ظفير

(٥) په دى كي دطلاق دمعنٰى لفظ نسته اوبله صيغه دمستقبل ده په دى سره طلاق نه واقع كيږى. ظفير

زما او دښځې مې نکاح سالمه پاته نه ده، په دې ويلو سره طلاق نه کيږي: **سوال**: (۲۲) که يو سړی دخپلې ښځې په باره کې بل سړی ته مخاطب سی او وايي چې زما اوددې ښځې نکاح سالمه نه ده نو آيا ددوباره نکاح ضرورت سته؟ که بې ددوباره نکاح کولو څخه کوروالي وسی نوڅه حکم دی؟

جواب: چې مخکې نکاح سويده نوپه دی ويلو سره طلاق نه واقع کيږي (١) او ددوباره نکاح ضرورت نسته او کوروالي صحيح دی. فقط

دښځې نوم صغرٰی بنت پانچو وه او وی ويل هاجره بنت چهدا ته مې طلاق ورکی نو طلاق وسو اوکه نه؟ **سوال**: (۲۳) يوسړی دوهمه نکاح وکړه دده دمنکوحې پيدائشي نوم صغرٰی بنت پانچو ده اوبلا ورته ويل کيږي او دنکاح په وخت صغرٰی بنت چهدا يعنې دميريزي پلار نوم واخيستل سو دمخکې ښځې دپلار اودخپل ورور په دباؤ سره يې دوهمې ښځې ته طلاق ورکی او هاجره بنت چهدا يې وويل اوطلاق يې ورکی داسې چې دمنکوحې يو دريم نوم دی چې نه پيدائشي دی اونه په هغه باندې ورته ويل کيږي نو په دی صورت کې طلاق واقع سو اوکه نه؟

جواب: په درمختار کې دي: غلط وكيلها بالنكاح في اسم ابيها بغير حضورها لم يصح وكذا غلط في اسم بنته الا اذا كانت حاضرة واشار اليها فيصح الخ (٢). چې که انجلۍ په مجلس دنکاح کې حاضره نه وی اوشاهدان اووکيل دې ته اشاره ونه کړی نو بيا دپلار دنوم په غلط اخيستو سره يا دانجلۍ دنوم په غلط اخيستو سره نکاح نه کيږي ددې وجه څخه په صورت مسئوله کې نه نکاح صحيح سوه اونه طلاق واقع سو.

بې له طلاقه په پريښوولو سره طلاق نه کيږي: **سوال**: (۲۴) چې خپله ښځه دخپله کوره په سبب دجنګ جګړو وباسي دولس کاله باندې تيرسی نه ددې خرڅ دنان او نفقه ورکوی او نه ددې سره جماع ته راځي اونه طلاق ورکوی خو ښځه خپل ځان طلاقه ګڼي نو په دې صورت کې شرعاً څه حکم دی؟

جواب: بې له طلاق ورکولو څخه ددې ځان مطلقه ګڼل معتبر نه دی مناسبه ده چې طلاق ورکول سی اودطلاق دعدې دتيريدو څخه وروسته دوهمه نکاح وکړي خو تراوسه ددې نکاح باقي ده په ايستلو اوپه نه اداء کولو دنان او نفقه طلاق نه واقع کيږي او ددې خپل ځان مطلقه ګڼل خطا ده (٣) خوکه په وخت دايستلو په نيت دطلاق يې دې ته څه ويلي

(١) داجمله دباب الکنايات څخه نه ده. ظفير

(٢) الدرالمختار على هامش ردالمحتار كتاب النكاح ج٢ ص ٢٧٨. ط. س. ج٣ ص ٢٢. ظفير

(٣) ځکه چې نه يې صريح لفظ دطلاق وواپه اونه يې څه لفظ دکنايې، صرف نه راوړل طلاق نه دی. ظفير

وی چی دکوره ووزه ورك سه یا داسی نور الفاظ دکنایی اونیت یی دطلاقو کړی وی نو طلاق واقع سو.

دنشي په حالت کی دری طلاقه یی ورکړل نوڅه حکم دی؟ سوال: (۲۵) دزید نکاح دنشي په حالت کی قاضي وکړه دوه کاله وروسته یی په حالت دنشه کی په یوه جلسه کی دری طلاقه ورکړل دنشي دتللو څخه وروسته یی ډیر افسوس وکړی او دخپلی ګناه څخه یی توبه وکښله اوس دوباره ددوی عقد جائزدی اوکه نه؟

جواب: دنشي په حالت کی چی خاوند خپلی ښځی ته طلاق واچوی نوطلاق واقع کیږی لکه چی په درمختار کی دی: ويقع طلاق كل زوج بالغ عاقل ولو تقديرا ليدخل السكران ولو عبدا أو مكرها أو هازلا أو سفيها أو سكران، درمختار ملخصاً، قوله ليدخل السكران فإنه في حكم العاقل زجراً له فلا منافاة بين قوله عاقل وقوله الآتي او سكران الخ شامی (۱). نوکه خاوند دری طلاقه ورکړی وی نوبی له حلالی دمطلقه ثلاثه نکاح دده سره نه سی کیدی. قال الله تعالیٰ: فان طلقها فلا تحل له من بعد حتٰی تنکح زوجا غیره. الآیة (۲)، او دحلالی طریقه داده چی دا ښځه دعدی دتیریدو څخه وروسته چی دری حیضه دی (دهغه ښځی دکمي چی حیض راځی اوچی دچا حیض نه راځی نو دری میاشتی دی) دبل سړی سره نکاح اووطی وکړی اودی دوطی څخه وروسته طلاق ورلره ورکړی اودده عده تیره سی نوبیا اول خاوند نکاح کولی سی (۳).

په زور یی اضافي طلاق ورکی نو وسو اوکه نه؟ سوال: (۲۶) زید دعمر څخه په زور او زبردستي طلاق اضافي واخیستي آیا دحلت دنکاح څه صورت کیدی سی اوکه نه؟

جواب: په زور او زبردستي طلاق اخیستو سره هم طلاق واقع کیږی (۴) او دطلاق اضافي عقد هم په طریقه دتعلیق صحیح دی مثلاً داسي ووایی: کلما تزوجت فهی طالق، نو چی

---

(۱) ردالمحتار کتاب الطلاق ج۲ ص۵۷۹، ط. س. ج۳ ص۲۳۵. قوله سکران السکر سرور یزیل العقل فلا یعرف به سماء من الارض وقالا بل یغلب علی العقل فیهذی فی کلامه الخ وبین فی التحریر حکمه انه ان کان سکره بطریق محرم لا یبطل تکلیفه فتلزمه الاحکام وتصح عباراته من الطلاق والعتاق والبیع والاقرار وتزویج الصغار من کفو والاقراض والاستقراض لان العقل قائم الخ (ردالمحتار کتاب الطلاق ج۲ ص۵۸۲، ط. س. ج۳ ص۲۳۹). ظفیر

(۲) سورة البقره رکوع ۲۹. ظفیر

(۳) وان کان الطلاق ثلاثا فی الحرة لم تحل له حتٰی تنکح زوجا غیره نکاح صحیح ویدخل بها ثم یطلقها اویموت (عالمگیری مصری ج۱ ص ۵۰۱، ط. ماجدیة ج۱ ص ۴۷۳). ظفیر

(۴) ویقع طلاق کل زوج بالغ عاقل ولو عبدا اومکرها فان طلاقه ای المکره صحیح (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار کتاب الطلاق ج۲ ص ۵۷۹، ط. س. ج۳ ص ۲۳۵). ظفیر

دکمې ښځې سره نکاح وکړي نو هغه به طلاقه سي [۱]. کذا في الدر المختار [۲].

دپنځلسو کالو دهلک طلاق واقع کيږي: **سوال**: (۲۷) هلك په ۲۱ دمارچ سنه ۱۹۰۵ کی پیدا سو اوس چی مونږ حساب ولګوی پنځلس کاله پوره کیږی نودده طلاق جائزدی او که نه؟

جواب: که په قمری حساب دپنځلسو کالو عمر پوره سی نودا هلك شرعًا بالغ دی او دده طلاق واقع کیږی [۳] او تاریخ دپیدائش چی کم تاسي ۲۱\ مارچ سنه ۱۹۰۵ لیکلی دی نو ددی په حساب تر ۲۱ دمارچ سنه ۱۹۱۹ پوری څوارلس کاله عیسوی پوره سوه او تر۲۱ داکتوبر سنه ۱۹۱۹ پوری څوارلس کاله او اوه میاشتی پوره سوی اوپه قمری حساب سره په یوکال کی دلسو ورځو فرق دی نوپه جنتری کی دي حساب وکتل سی چی ۲۱ دمارچ سنه ۱۹۰۵ کمه میاشت اوتاریخ وو ددی څخه دی حساب ولګول سی [۴].

څوک په زړه کی طلاق ورکړي او په خوله ونه وايي نوڅه حکم دی؟ **سوال**: (۲۸) دزید په زړه کی داقسم وسوسی راځی چی خپلی ښځی ته به طلاق ورکړم یامی ورکی خلاصه داچی په کلام نفسی کی که یو سړی طلاق ورکړی اودطلاقو الفاظ دژبی څخه ونه باسی نوطلاق به واقع وی اوکه نه؟

جواب: په دی سره هیڅ نه کیږی یعنی طلاق نه واقع کیږی [۵].

په تهانه کی چی کم عمر لیکل سوی‌دی چی ددې په حساب سره پنځلس کاله پوره سی نو طلاق واقع سو: **سوال**: (۲۹) یوهلك دی چی علامات دبلوغ احتلام احبال وغیره پکښی ښکاره نه دی دجسم اودقد څخه قصیر معلومیږی په موجب دچوکیدار دعلاقی په تهانه اوسرکاری دفترکی دده عمر په انګریزی کال باندی څوارلس کاله اوشپږ میاشتی او شپږ ورځی سوی اودهجری کال په اعتبارسره څوارلس‌کاله یوولس یوولس میاشتی اواوولس

---

(۱) اذا اضاف الطلاق ای النکاح وقع عقیب النکاح نحو ان یقول لامراۃ ان تزوجتك فانت طالق وکل امراۃ اتزوجها فهی طالق الخ واذا اضافه الی الشرط وقع عقیب الشرط اتفاقا مثل ان یقول لامراته ان دخلت الدار فانت طالق (عالمگیری مصری فصل فی تعلیق الطلاق ج۱ ص ۴۵۰، ط. ماجدیة ج۱ ص ۴۲۰). ظفیر

(۲) وګوره الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب التعلیق ج۲ ص ۲۷۷. ظفیر

(۳) بلوغ الغلام بالاحتلام والاحبال والانزال الخ فان لم یوجد فیهما شی فحتٰی یتم خمس عشرة سنة به یفتی (رد المحتار فصل فی بلوغ الغلام ج۲ ص۵۷۹، ط. س. ج۲ ص۱۵۳) ویقع طلاق کل زوج بالغ عاقل الخ (الدر المختار علی هامش ردالمحتار کتاب الطلاق ج۲ ص۵۷۹، ط. س. ج۳ ص ۲۳۵). ظفیر

(۴) واهل الشرع انما یتعارفون الاشهر والسنین بالاهلة فاذا اطلقوا السنة انصرف الی ذالك مالم یصرحوا بخلافه فتح (ردالمحتار باب العنین وغیره ج۲ ص۸۱۸، ط. س. ج۳ ص ۴۹۷). ظفیر

(۵) ان الله تجاوز عن امتی ما وسوست به صدورها ما لم یعمل بها او تتکلم بها رواه الشیخان (مشکوۃ باب الوسوسة ص ۱۸). ظفیر

ورځی سوی تحریر دځوکیدار په باره دطلاق کي معتبر دی اوکه نه؟ دمذکوره تحریر څخه ماسوا بل شاهد دکال دپیدائش دده نسته، دا بیان کړی چی دمذکوره هلك دمذکوره تحریرمطابق پنځلس کاله برابرسی نودده طلاق به نافذوی اوکه ثبوت دشاهدی ضروری دی او چی شاهدی نسته نوتر ظهور دعلامې دبلوغ پوری به انتظار کیږي اوکه به څنګه کیږی؟ اوپنځلس کاله به هجری معتبر وی اوکه عیسوی او وروسته دپنځلسو کالو دپوره کیدو څخه موافق دتحریر مذکور پرده به حکم دبلوغ کیږی او دده طلاق به ښځی ته صحیح وی اوکه نه؟ او دده ښځه به بل ځای نکاح کولی سی اوکه نه؟

جواب: په شامی جلد رابع باب کتاب القاضی کی یی تصریح او تحقیق ددی امر کړیدی چی تحریرات ددفترونو دباچاهانو اودحاکمانو اودفترونو دسوداګرو او دصرافانو معتبر دی دعرف پربناء (۱)نوسن اوتاریخ ولادت دماشومانو چی په سرکاری دفترکي دی معتبر اومسلم دی که څه هم په ذریعه دچوکیدار وی چی عرفًا ټول معتبر اومسلم ګرځیدلی دی اوحاکمان دامنی او ددغه تاریخ څخه که پنځلس کاله دده پوره سی نوحکم دبلوغ دده په تصریح دفقهاؤ به کیږی. فی الدرالمختار: فان لم یوجد فیهما بشيء مما ذکر یتم لکل منهما خمس عشرة سنة وبه یفتی (۲). پنځلس کاله قمری په حساب دمیاشتو اوداسلامی کلونو به نیول کیږی اوهمدا حساب معتبر په شرع کی دی (۳). قال الله تعالٰی: یسئلونك عن الاهلة قل هی مواقیت للناس (۴). نوطلاق دیو سړی چی په عمر دپنځلس کالو په حساب دخپل اهل ورسیدی، هغه واقع دی.

چی په کم نوم یی طلاق ورکی که په دی نوم سره دا پیژندل کیږی نوطلاق واقع سو: سوال:

(۷۰) یوسړی خپلی ښځی ته طلاق ورکی نوچی دښځی اوددی دپلار نوم چی کم په وخت دنکاح ویل سوی وو په وخت دطلاق طلاق ورکوونکی دغه نومونه وانه خیستل بلکی په خلاف ددی دوه نومونه دمنکوحی او ددی دپلار بل نوم یی واخیستی اوطلاق یی ورکی نو آیا طلاق وسو اوکه نه؟

جواب: چی کم نوم ده دمنکوحی او ددی دپلار اخیستی وو او طلاق یی ورکی که په دی

---

(۱) یجوز الرجوع في الحکم الی دواوین من کان قبله من الامناء لان مسجل القاضی لایزور عادة حیث کان محفوظا عند الامناء (ردالمحتار کتاب القضاء ج۴ ص۴۴۸) وابن الشحنة وابن وهبان جزما بالعمل بدفتر الصراف ونحوه الخ قال ان هذه العلة في الدفاتر السلطانیة أولی الخ اما خط البیاع والصراف والسمسار فهو حجة (کتاب القاضي ج۴ ص۴۸۹). ظفیر

(۲) ردالمحتار فصل فی بلوغ الغلام ج۵ ص۱۳۲، ط. س. ج۲ ص ۱۵۳. ظفیر

(۳) واهل الشرع انما یتعارفون الاشهر والسنین بالاهلة (ردالمحتار باب العنین وغیره ج۲ ص۸۱۸). ظفیر

(۴) سورة البقرة رکوع ۲۴. ظفیر

نوم دا رابلل کیږی اواراده کیږی باندی که څه هم دنکاح په وخت دانوم نه وی اخیستل سوی نوطلاق پردی منکوحه واقع سو، (کني نو طلاق به واقع نه وی ځکه چی داپه نوم بدلیدو سره په حکم دپردۍ کی سوه (۱). ظفیر). فقط

دلیونی طلاق واقع نه دی: سوال: (۷۱) یوسړی په حالت دلیونتوب کی ښځی ته دری طلاقه ورکړل نو په دی صورت کی طلاق واقع سو اوکه نه؟

جواب: په حالت دلیونتوب طلاق نه واقع کیږی. قال فی الدرالمختار وغیره لایقع طلاق المجنون والصبی الخ (۲).

دخاوند نافرمانه ښځه دنکاح څخه وزی: سوال: (۷۲) چی کمه ښځه بی درضاء دخاوند څخه دخپلو رشته دارانو کره اوسیدل اختیارکړی دخاوند په بیا بیا ورتلو هم دخاوند کره رانه سی دمشکوکو خلګو په مخکی بی پرده راځی بلکی خاوند ته دخفګان ورکولو دپاره دخاوند ددښمنانو سره تعلق ساتی پرخاوند ناجائز تهمت لګوی اومقابله ورسره کوی په هرصورت دخاوند داطاعت څخه وتلي ده داسی ښځه دنکاح څخه وزی اوکه نه؟

جواب: داسی ښځه چی دخاوند نافرمانی کوی اوپه ښو کارونو کی دده خبره نه منی او دګناه کار وکړی نودا سخته ګنهګاره فاسقه فاجره ده او نان او نفقه ددی دخاوند پر ذمه ساقطه ده ترڅو چی دا دخاوند تابعداری نه کوی اوچی کم ځای یې دی ساتی هلته نه اوسیږی نوتر دغه وخته پوری به دیته نان او نفقه نه ورکول کیږی (۳) اونکاح فسخ نه سوه داښځه اوس هم دخپل خاوند ښځه ده اودوهمه نکاح دبل سړی سره نسی کولی (۴).

---

(۱) ما حصل دادی چی کله طلاق ښځی ته ورکول سو اوداپه دی نوم پیژندل کیږی چی په کم نوم ورته طلاق ورکول سویدی نوطلاق واقع سو اوکه داسی نه وی نوطلاق به واقع نه وی. رجل قال امرأته عمرة بنت صبیح طالق وامرأته عمرة بنت حفص ولا نية له لا تطلق امرأته وإن كان صبيح زوج أم امرأته وكانت تنسب إليه وهي في حجره الخ الاصل انه متى وجدت النسبة وغير اسمها بغيره لا يقع لان التعريف لا يحصل (البحر الرائق باب طلاق الصريح ج۳ ص۲۷۳). ظفیر

(۲) لایقع طلاق المولی علی امراة عبده الخ والمجنون الخ والصبی (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار کتاب الطلاق ج۲ ص۵۸۲، ط. س. ج۳ ص۲۴۲). ظفیر

(۳) لا نفقة لخارجة من بیته بغیر حق وهی الناشزة (درمختار) ای بالمعنی الشرعی اما فی اللغة فهی العاصیة علی الزوج المبغضة له الخ وللزوج ان یمنع امراته عما یوجب خللا فی حقه (ردالمحتار باب النفقة ج۲ ص۸۹۰ – ۸۹۱، ط. س. ج۳ ص ۵۷۶). ظفیر

(۴) طلاق دخاوند په لاس کی دی یا ځیني وختونه فسخ دنکاح دقاضی په اختیارکي وی ښځه په غلطو حرکتونو په خپله دنکاح څخه نه سی بهر کیدی: الطلاق حق من حقوق الزوج لان رسول الله ﷺ وسلم قال ایما امرأة سالت زوجها طلاقا من غیر باس فحرام علیها رائحة الجنة رواه اصحاب السنن (مشکوٰة باب الخلع والطلاق ص۲۸۳) ولان الطلاق لایکون من النساء (الدرالمختارعلی هامش ردالمحتارباب نکاح الکافرج۲ ص۵۳۲، ط. س. ج۳ ص۱۹۰).

آیا پرطلاقو چې څه موده تیره سي نو دا ختمیږي؟ **سوال**: (۷۳) یوملا سړی چې دهغه ښځه دیوی مسئلي پوښتنه وسی او داهم ورته وویل سی چې فلانی سړی خپله ښځه سره دطلاق ورکولو دخپل ځان سره ساتلی ده او ددی سره څملی ملاصاحب ثبوت دشاهدی اخلی اوپه خپله ژبه باندی اقرار هم کوی چې دطلاق شاهدی معتبره ده اوطلاق ورکول ثابت دی خوچې دطلاقو ورکولو زیاته موده سویده نوددی وجه څخه دطلاق میعاد باقی پاته نه دی ځکه چې پرکمو طلاقو شپږ اوه میاشتی تیری سی او دهغه پوښتنه ونه سی نو دا طلاق نه کیږی یعنی ددی طلاق میعاد تیر سویدی، آیا داصحیح دی اوکه غلط؟

جواب: طلاق چې هر وخت هم واقع سی نوبیا دهغه میعاد نسته چې ددی میعاد څخه وروسته حکم دطلاق نه پاته کیږی داغلطی اوجهالت ددی ملا دی چې داسی وایی خوکه طلاق رجعی وی، بائنه اومغلطه نه وی نوپه دی کی په عده کی دننه رجوع بغیر دنکاح صحیح ده او دعدی څخه وروسته په نکاح جدید سره رجوع کولی سی (۱) داسی په طلاق بائن کی هم نکاح جدیده کیدی سی (۲) اوپه طلاق مغلظ کی بی له حلالی څخه داول خاوند سره نکاح نه سی کولی. هکذا فی کتب الفقه (۳).

دپنځلسو کالو هلک چې بالغ نه دی دهغه دطلاقو څه حکم دی؟ **سوال**: (۷۴) یوهلك دپنځلسو کالو سو خوبالغ سوی نه دی نودده طلاق جائزدی اوکه نه؟

جواب: چې کله دده عمر پنځلس کاله سویدی نودی شرعا بالغ ګڼل کیږی که څه هم احتلام وغیره ورته نه وی سوی (۴) نودده طلاق به شرعا واقع وی (۵).

دڅوارلسو کالو دهلک دطلاق څه حکم دی؟ **سوال**: (۷۵) دڅوارلسو کالو دهلك غیر محتلم چې ممیز دی شرعا دده طلاق واقع کیږی اوکه نه؟

جواب: دنابالغ طلاق نه واقع کیږی که څه هم دی مراهــق یعنی قریــب البلوغ وی او ممیز

---

(۱) واذاطلق الرجل امراته تطليقة رجعية او تطليقتين فله ان يراجعها في عدتها رضيت بذالك اولم ترض الخ واذا انقطعت الدم من الحيضة الثالثة بعشرة ايام انقطعت الرجعة ج۲ ص۳۷۴، دعدی دختمیدو څخه وروسته بائنه کیږی اوبائنه سره ددې چې ددری څخه کم طلاقه ورته ورکول سوی وی بی دحلالی جدیده نکاح کولی سی لکه چې مخ ته راروان دی. ظفير

(۲) وان كان الطلاق بائنا دون الثلث فله ان يتزوجها في العدة وبعد انقضائها (ايضاً ج۲ ص۳۷۹). ظفير

(۳) وان كان الطلاق بائنا دون الثلث في الحرة لم تحل له حتى تنكح زوجا غيره نكاحا صحيحا ويدخل بها ثم يطلقها اويموت (ايضا ج۲ ص ۳۷۹). ظفير

(۴) وبلوغ الغلام بالاحتلام والاحبال والانزال الخ فان لم يوجد فيهما شيء فحتى يتم خمس عشرة سنة به يفتى (ردالمحتار فصل في بلوغ الغلام ج۵ ص۱۳۲، ط. س. ج۲ ص۱۵۳). ظفير

(۵) ويقع طلاق كل زوج بالغ عاقل (الدرالمختار على هامش ردالمحتار كتاب الطلاق ج۲ ص۵۷۹. ط. س. ج۳ ص۲۳۵). ظفير

وی [۱] او دځوارلسو کالو په عمر کی شرعا دبلوغ حکم نه کیږی چی کله احتلام وغیره علامه دبلوغ نه وی ښکاره سوی، په درمختار کی دی: والصبی ولو مراهقا او اجازه بعد البلوغ. اوپه شامی کی دی: قوله او اجازه بعد البلوغ لانه حین وقوعه وقع باطلا والباطل لا یجاز [۲] ط. فقط

ښځی ته یی وویل طلاق درکوم طلاق وسو اوکه نه؟ سوال: (۷۶) یوسړی خپلی ښځی ته دلسو سړیو په مخکی وویل زه تاته طلاق درکوم، شرعا طلاق وسو اوکه نه؟

جواب: په دی صورت کی طلاق صحیح سو دده ښځه طلاقه سوه [۳].

په زبردستی سره په طلاق ورکولو طلاق کیږی اوکه نه؟ سوال: (۷۷) زید سخت ووهل سو چی دی خپلی ښځی هندی ته طلاق ورکړی نوده ولیکل چی زه په مجبوری سره دری طلاقه ورکوم اوپه زور دا الفاظ دتوری تر سایې ترلاندی په ده وویل سوه په دې صورت عند الشرع طلاق واقع سو اوکه نه؟

جواب: که پر خاوند زور او زبردستی وسی اوپه بیره اوپه دباؤ طلاق واچول سی نوطلاق واقع کیږی لکه چی په درمختارکی دی: اومکرها فان طلاقه صحیح [۴] الخ. او په شامی کی دبحر څخه نقل کړیدی چی په ژبه که په زبردستی طلاق واچول سی نو واقع کیږی خو که جبرا طلاق ولیکل سی اوخاوند په ژبه څه ونه وایی نوطلاق به واقع نه وی. فلو اکره علی ان یکتب طلاق امرأته فکتب لا تطلق الخ [۵]. فقط

دولی په زور سره خاوند طلاق ورکړی نوهم کیږی: سوال: (۷۸) یوبالغ هلك دولی دسختی دوجه خپلی ښځی ته طلاق ورکړی نو واقع سو اوکه نه؟

جواب: په دی صورت کی طلاق واقع سو. کما فی الدرالمختار ویقع طلاق کل زوج بالغ عاقل ولو مکرها الخ انتهٰی [۶] ملخصًا.

دښځی نوم یی بدل کی او طلاق یی ورکی نیت یی دطلاقو نه وو بل ته ددهوکی ورکولو وو نوڅه حکم دی؟ سوال: (۷۹) بدر الحق ښځی ته داسی طلاق ورکی چی دنواب لور سکینه

---

[۱] لایقع طلاق المولی علی عبده الخ والمجنون والصبی ولو مراهقا واجازه بعد البلوغ (ایضا ج۲ ص۵۸۲. ط. س. ج۳ ص۲۴۲). ظفیر

[۲] وګوری ردالمحتار کتاب الطلاق ج۲ ص۵۸۲، ط. س. ج۳ ص۲۴۳. ظفیر

[۳] ویقع طلاق کل زوج بالغ عاقل ولو عبدا او مکرها الخ (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار کتاب الطلاق ج۲ ص۵۷۹، ط. س. ج۳ ص۲۳۵). ظفیر

[۴] الدرالمختار علی هامش ردالمحتار کتاب الطلاق ج۲ ص۵۷۹، ط. س. ج۳ ص۲۳۵. ظفیر

[۵] ردالمحتار کتاب الطلاق ج۲ ص۵۷۹، ط. س. ج۳ ص ۲۳۶. ظفیر

[۶] الدرالمختار علی هامش ردالمحتار کتاب الطلاق ج۲ ص۵۷۹، ط. س. ج۳ ص ۲۳۵. ظفیر

ته مي چې زماپه زوجيت کې ده درې طلاقه ورکړل حال دادی چې سکينه دده ښځه نه ده بلکې دده دښځې نوم حبيبه ده اونيت يې دطلاق ورکولو نه وو اودا حيله يې ځکه وکړه چې بدر الحق دوهم واده کوی نوپه دی وجه خلګو ورته وويل چې ته خپلې ښځې ته طلاق ورکړه ددې وجه څخه په دې حيلې سره ده طلاق ورکې نوپه دې صورت کې طلاق واقع سو اوکه نه؟

جواب: په دې صورت کې دبدرالحق پرښځې طلاق واقع نه سو اودا اوس هم دده منکوحه ده په کتابونو دفقه کې تصريح ده چې دتغير داسم په صورت کې نسبت الی الاب هيڅ فائده نه ورکوی، ځکه چې کله ده نوم بدل کې نوددې بدلولو په نوم سره به دايوه پردی ښځه ګڼل کيږی اوپلار ته چې يې کم نسبت سويدی هغه غلط دی اوبې معنٰی دی او خاص په دې صورت کې چې دطلاقو اچولو نيت يې هم نه وو، نقل صاحب البحر عن المحيط وفی المحيط الاصل انه متٰی وجدت النسبة وغير اسمها بغيره لايقع لان التعريف لايحصل بالتسمية متٰی ابدل اسمها لان بذالك الاسم تکون امراة اجنبية بحر الرائق ([1]) جلد۳ وفی العالمګيرية عن الذخيرة ولوقال امراته الحبشية طالق ولا نية له فی طلاق امراته وامراته ليست بحبشية لايقع عليها وعلی هذا اذا سمی بغير اسمها ولا نية له فی طلاق ([2]) امراته عالمګيريه جلد ۲. والله سبحانه وتعالٰی اعلم. فقط

<u>ددوهم واده دپاره ددوکې په طور دمخکې ښځې نوم يې بدل کړي او طلاق يې ورکې نوڅه حکم دی؟</u> **سوال**: (۸۰) يو سړی ددوهمي نکاح دپاره ولاړی نودمخطوبې اولياؤ وويل چې ته به خپلې ښځې افروزه خاتون بنت ابوميان ته طلاق ورکړی نوموږ به نکاح وکړو نودده بياپه نوم کې قصداً غلطی وکړه چې عافية خاتون بنت ابوميان ته مادری طلاقه ورکړل نوپه دې صورت کې څه حکم دی؟

جواب: دنوم په غلطی سره چې څنګه نکاح نه منعقد کيږی نوطلاق به هم نه وی واقع نوپه دې صورت کې دده ښځه افروزه خاتون طلاقه نه ده ([3]). غلط وکيلها بالنکاح فی اسم ابيها بغير حضورها لم يصح للجهالة وکذا لوغلط فی اسم بنته الخ، درمختار ([4]).

<u>بې له نوم اخيستو څخه په طلاق ورکولو سره هم طلاق واقع کيږی</u>: **سوال**: (۸۱) يو سړی د

([1]) البحر الرائق باب الطلاق الصريح ج۳ ص ۲۷۳. ظفير

([2]) عالمګيری مصری باب ايقاع الطلاق ج۱ ص۳۸۲ ط. ماجديه ج۱ ص ۳۵۸. ظفير

([3]) لوقال امراته الحبشية طالق وامرأته ليست بحبشية لا يقع الخ وفي المحيط الأصل أنه متى وجدت النسبة وغير اسمها بغيره لا يقع لأن التعريف لا يحصل بالتسمية متى بدل اسمها لأن بذلك الاسم تكون امرأة أجنبية (البحر الرائق باب طلاق الصريح ج۳ ص ۲۷۳). ظفير

([4]) الدرالمختار علی هامش ردالمحتار کتاب النکاح ج۲ ص ۳۷۸، ط. س. ج۳ ص ۲۲. ظفير

خپلې ښځې نوم وانه خیستی بی له نیت دطلاقو څخه یې داسې وویل چې یوطلاق دوه طلاقه درې طلاقه دغه وخت دده ښځه موجوده نه وه، په دې صورت کې دده ښځه طلاقه سوه اوکه نه؟

جواب: دوقوع دطلاق دپاره دښځې موجیدل شرط نه دی اودارکم په لفظ دطلاق کې نیت هم شرط نه دی اوبې نیته هم طلاق واقع کیږي. کما فی الدرالمختار ویقع بها ای بهذه الالفاظ ومابمعناه من الصریح الخ وان نوی خلافها اولم ینو شیئا الخ. (۱) درمختار نو په دې صورت کې که ذکر دښځې وو یایې پردې باندې غصه وه یا چا سوال دطلاقو دښځې ځینې کړی وو په دې سره خاوند وویل یوطلاق دوه طلاقه درې طلاقه نو دده پر ښځې درې طلاقه واقع سوه او دا مطلقه ثلاثه سوه بې له حلالې ددې سره نکاح نه سي کیدی.

په لاندینی ښکنځلو سره نکاح ماتیږي اوکه نه؟ **سوال**: (۸۲) نن سبا په کلیو کې دښځو اولاد ته ښکنځل دادی چې پلار او ورور دخاوند پرځای ګڼي اوداولاد نسبت پلار او ورور ته کوي نو په دې سره نکاح ماتیږي اوکه نه؟

جواب: په داسې ښکنځلو سره نکاح نه ماتیږي (۲) خو سخته ګناه کیږي توبه کښل په کار دي او بیا دخولې څخه ښکنځل نه دي ایستل په کار دا دجاهلانو اوفاسقانو کاردی.

دتلاک په لفظ سره په طلاق اچولو سره هم طلاق کیږي: **سوال**: (۸۳) زید خپلې ښځې هندی ته درې واره په لفظ داستاره طلاق ورکی نودا طلاق وسو اوکه نه؟

جواب: په دې صورت کې دزید ښځه په درې طلاقو باندې طلاقه سوه ځکه چې دفقه په کتابونو کې تصریح ده چې په تاء سره په طلاق ورکولو سره هم طلاق کیږي په درمختار کې دي: ویدخل نحو طلاغ تلاغ وطلاك وتلاك الخ. اوپه شامي کې دي: قال فی البحر ومنه الالفاظ المصحفة وهی خمسة فزاد علی ماهنا تلاق الخ (۳).

دطلاق ورکولو په نیت سره یې کاغذ واخیستی خونه یې په ژبه څه وویل اونه یې پر کاغذ څه ولیکل، څه حکم دی؟ **سوال**: (۸۴) یوسړی خپلې ښځې منکوحه غیر مدخول بها ته دطلاق ورکولو نیت وکی او ددې دپاره یې کاغذ سټامپ والا په بیعه واخیستی دغه وخت یې

(۱) الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب الصریح ج۲ ص ۵۹۱ - ۵۹۲ ، ط. س. ج۳ ص ۲۴۸. ظفیر

(۲) بنیادي خبره دا یاد ساتل په کاردي چې ښځه په نکاح ماتولو ماسوا دردت څخه په هیڅ جمله قادره نه ده طلاق دسړي حق دی دښځې نه دی: لان الطلاق لایکون من النساء (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب النکاح الکافر ج۲ ص۵۳۲، ط. س. ج۳ ص۱۹۰) باقي ښکنځل بدکار دی په حدیث پاك دی: سباب المسلم فسوق وقتاله کفر، متفق علیه (مشکوٰة باب حفظ اللسان ص۴۱۱). ظفیر

(۳) وګورئ ردالمحتار للشامي باب الصریح ج۲ ص۵۹۰ - ۵۹۱، ط. س. ج۳ ص۲۴۹). ظفیر

څه لفظ دطلاق صراحةً یاکنایةً دژبې څخه ونه وتی خو دڅه وجه څخه ده طلاق ورنه کی او استامپ یې تحریر کی آیا په دی اراده قلبی او استامپ اخیستو باندی بغیر دتلفظ دلفظ دطلاقو طلاق واقع کیږی؟

جواب: په دی صورت کی طلاق ونه سو په اراده دطلاقو طلاق نه واقع کیږی (۱).

تکوونکی خاوند دی مجبوره سی چی طلاق ورکړی: **سوال**: (۸۵) ما دخپلی لور نکاح دیو داسی سړی سره وکړه چی هغه ډیر تکلیفونه ورکړیدی چی دهغې دولس کاله وسوه چی برابر تکلیف به یې برداشت کوی اوس زما کور ته راغلی ده او ده یووار داهم وویل چی ته زما مور یې اوزه ستا مشر زوی اوس مقدمه په عدالت کی ده عدالت وایی چی ته فتوٰی شرعی وغواړه کنې نو ښځه به په زبردستی ددی خاوند کره ولیږل سی چی کم حکم شرعی وی دا تحریر کړی چی فتوٰی په عدالت کی وړاندی کړی او انجلی دعذاب څخه خلاصه سی.

جواب: دمور په ویلو سره طلاق نه واقع کیږی (۲) خوپه داسی حالت کی چی دښځی او خاوند مینځ کی موافقت نسته اوخاوند قسما قسم تکلیفونه خپلی ښځی ته ورکوی ښځه ده ته لیږل نه دی په کار بلکی خاوند دی مجبوره سی چی دی طلاق ورکړی اودا دی ازاده کړه اویا دې دنان او نفقی خبر واخلی اوحقوق دزوجیت دی اداء کړی (۳).

چی دمستقبل په صیغه طلاق ورکړی نوواقع به وی اوکه نه؟ **سوال**: (۸۶) ان زیداً قال لزوجة الهندة اطلقك واحدا ثم قال ثانیا ساطلقك ثلاثا نوی بالقولین الاستقبال هل تقع الفرقة بینهما ام لا؟ ورجع بعد الیومین الیها هل یکون العاصی؟

جواب: لا تقع الفرقة بالقولین لان معنٰی الاستقبال فی الثانی ظاهر بالسین وفی الاول لما اراد الاستقبال لم یقع به ایضا وان وقع فالرجعة جائزة فیه فلا یکون عاصیا بالرجعة قال

---

(۱) الطلاق رفع قید النکاح بلفظ مخصوص هو ما اشتمل علی الطلاق (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار کتاب النکاح ج۲ ص۵۷۰ – ۵۷۱. ط. س. ج۳ ص۲۲۲) قوله لفظ مخصوص هو ما جعل دلالة علی معنٰی الطلاق من صریح اوکنایة واراد اللفظ ولو حکما لیدخل الکنایة المستبینة (ردالمحتار کتاب الطلاق ج۲ ص ۵۷۴). ظفیر

(۲) وان بانت علی مثل اوکامی وکذا لو حذف علی برا الأظهار أو طلاقا صحت نیته ووقع ما نواه لأنه کنایة وإلا ینو شیئا أو حذف الکاف لغا وتعین الأدنی أي البر یعني الکرامة ویکره قوله أنت أمي ویا ابنتي ویا أختي ونحوه (درمختار) قوله اوحذف الکاف بان قال انت امی قوله لغا لانه مجمل فی حق التشبیه لا یحکم شيء (رد المحتار باب الظهار ج۲ ص۷۹۴، ط. س. ج۳ ص ۴۷۰). ظفیر

(۳) ویجب الطلاق لوفات الامساك بالمعروف (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار کتاب الطلاق ج۲ ص۵۷۲ ، ط. س. ج۳ ص ۲۲۹). ظفیر

فی الدرالمختار او انا اطلق نفسي لم يقع لانه (۱) وعد وهكذا صرح فی العالمگیریة بانه لا یقع الطلاق باطلقك لانه وعد (۲).

طلاق یې ورکی خو نیت یې هیڅ هم نه وو نو څه حکم دی؟ سوال: (۸۷) که څوك دا وو ایې چې ما خپلې ښځې ته طلاق ورکی او دهیڅ نیت یې هم نه وی نو څه حکم دی؟

جواب: په دې صورت کې یوطلاق رجعي واقع سو نیت یې وی اوکه نه په داسې صورت کې دنیت اعتبار نسته (۳). بخلاف ما اذا قال انت طالق للسنة ولم ینص علی الثلاث لا تصح نیة الجمع فیه کذا فی الهدایة (۴).

چې نوم بدل کړي او طلاق ورکړي نوکیږي اوکه نه؟ سوال: (۸۸) که یوسړی نوم بدل کړي او طلاق ورکړي نو واقع کیږي اوکه نه؟ که سهواً نوم بدل کړي نوڅه حکم دی؟

جواب: په دې صورت کې که سهوا نوم بدل وی اوکه قصداً طلاق واقع نه دی. سئل عمن اراد ان یقول زینب طالق فجری علی لسانه عمرة علی ایهما یقع الطلاق فقالا فی القضاء تطلق اللتی سمی وفیما بینه وبین الله لاتطلق واحدة منهما کذا فی الشامی (۵).

ددروغو انکاردنکاح څخه طلاق نه دی: سوال:(۸۹) زیداوهندی دیو مصلحت په وجه دحاکم په مخکې اقرار وکی چې په مونږکې نکاح نه ده سوی نونکاح ماته ده اوکه باقي ده؟

جواب: دزید او دهندی نکاح قائمه ده ددرواغو اقرار چې په مونږ کې نکاح نه ده سوی په دې سره طلاق نه کیږي.

چې کله په غصه کې دحواسو هوش پاته نه سي اوطلاق ورکړي نوڅه حکم دی؟ سوال: (۹۰) دیوسړی دخپل اخښې سره ډیره جګړه وسوه خبره دیته ولاړه چې داسړی بد حواسه سو چې بې هوده الفاظ اوبې حیاء خبرې یې دخولې څخه وتلې چې په دې فحش الفاظو کې دده دخولې څخه دبې هوښې په حالت کې طلاق هم ووتې نوآیا داسې دجنون په شان حالت کې دلفظ دطلاق دخولې څخه په وتلو سره طلاق واقع کیږي اوکه نه؟

جواب: چې کله غصه دی حالت ته ورسیږي چې هوش دحواسو پاته نه سي نو په داسې حالت کې طلاق نه واقع کیږي. کذا حققه الشامی، حیث قال الثانی ان یبلغ النهایة فلا

(۱) الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب تفویض الطلاق ج۲ ص ۶۵۷ ، ط. س. ج۳ ص ۳۹۱. ظفیر

(۲) عالمگیری مصری کتاب الطلاق ج۱ ص ۳۸۴. ظفیر

(۳) صریحا مالم یستعمل الا فیه کطلقتك وانت طالق ومطلقة الخ یقع بها ای بهذه الالفاظ وما بمعناها من الصریح واحدة رجعیة وان نوی خلافها من البائن اولم ینوی شیئا (درمختار) لمامر ان الصریح لایحتاج الی النیة (ردالمحتار باب الصریح ج۲ ص ۵۹۰ - ۵۹۱. ط. س. ج۳ ص ۲۴۷). ظفیر

(۴) هدایه کتاب الطلاق ج۲ ص ۳۳۸. ظفیر

(۵) ردالمحتار کتاب الطلاق ج۲ ص ۵۸۴، ط. س. ج۳ ص ۲۴۱. ظفیر

يعلم ما يقول ولا يريده فهذا لاريب انه لا ينفذ شيء من اقواله الخ (۱)، وقال قبيله نقلا عن الخيريه وسئل نظما فيمن طلق زوجة ثلاثا في مجلس القاضي وهو مغتاظ مدهوش فاجاب نظما ايضا بان الدهش من اقسام الجنون فلايقع الخ (۲). فقط

چي په كمه غصه كي هوش نه وي او طلاق وركړي نوطلاق واقع سو اوكه نه؟ سوال: (۹۱) عبد العزيز خپله ښځه په يو قصور ووهله اودري طلاقه يي وركړل خوپه غصه كي ده ته خبر دطلاقو نه وو عبدالعزيز ددی خبری اقرار كوی چي ماخپله ښځه په لرګي دری واره ووهله ددی څخه وروسته بيا ماته هيڅ خبرنه وو په وجه دغصی آيا په داسی صورت كي دده پرښځي طلاق واقع كيږي اوكه نه؟

جواب: قال في ردالمحتار نقلا عن الخيرية: وسئل نظما فيمن طلق زوجة ثلاثا في مجلس القاضي وهو مغتاظ مدهوش فاجاب نظما ايضا بان الدهش من اقسام الجنون فلايقع واذا كان يعتاده بان عرف منه الدهش مرة يصدق بلا برهان الخ (۳). نو كله چي عبدالعزيز طلاق وركوونكي ددی خبری مدعی دی چي ماته په وجه دغيظ وغضب هيڅ خبر دطلاقو نسته نو مابينه ومابين الله دده پرښځي طلاق واقع نه سو اوكه دده عادت دداسي غصي مشهور وو نوقاضي به هم دده دقول تصديق كوی بی له برهانه كمامر عن الخيرية. فقط

په طلاق كي دښځي مخامخ خطاب كيدل ضروري نه دي: سوال: (۹۲) په طلاقو كي خطاب كيدل او دښځي مخامخ كيدل شرط دی اوكه نه؟

جواب: خطاب او دښځي مخامخ كيدل شرط نه دی كه ښځه غائبه وی اودی ته خطاب ونه سي اوطلاق وركول سي نوهم طلاق واقع كيږي. (۴) فقط

چي كمه ښځه په فسق او فجور كي اخته وي ديته طلاق وركول څنګه دي؟ سوال: (۹۳) يو سړی خپلی ښځي ته په پرده كي داوسيدو اودلمونځ تاكيدكوی په دی ښځي خفه سوه او دخاوند دكور څخه دپلار كره ولاړه او دفسق اوفجور او دشرك كارونه يي شروع كړل ددروغو دقبر سالار مدار پرغلاف باندی مړل وغيره او مننی وغيره وركول يي شروع كړل اودهندوانو ميلو ته ځي اوبی پردی ګرځي اوطلاق غواړی اوخاوند طلاق نه وركوی

---

(۱) ردالمحتار كتاب الطلاق ج۲ ص ۵۸۷ مطلب في طلاق المدهوش ط. س. ج۳ ص ۲۴۴. ظفير

(۲) ردالمحتار كتاب الطلاق ج۲ مطلب في طلاق المدهوش ج۲ ص ۵۸۷، ط. س. ج۳ ص ۲۴۴. ظفير

(۳) ردالمحتار كتاب الطلاق ج۲ ص ۵۸۷، ط. س. ج۳ ص ۲۴۴. ظفير

(۴) ولايلزم كون الاضافة صريحة في كلامه كمافي البحر لوقال طالق فقيل من عنيت فقال امراتي طلقت امرأته (رد المحتار باب الصريح ج۲ ص۵۹۰، ط. س. ج۳ ص ۲۸۴). ظفير

نو په دې امر کې څه حکم دی؟ ښځه سره ددغه امورو مرتکبه دمهر حقداره ده اوکه نه؟
جواب:په داسې صورت کې طلاق ورکول مناسب دی که څه هم واجب نه دی: قال في الدر المختار لايجب على الزوج تطليق الفاجرة الا اذا خافا ان لايقيما حدود الله فلاباس ان يتفرقا (۱). خو شامي داتحقيق کړيدی چې کله امساك بالمعروف فوت سی نوطلاق ورکول واجب دی (۲) نومقتضی ددی داده چې په دی صورت کی طلاق ورکول واجب دی خوکه دابنځه تائبه سی نوبيا طلاق ورکول ضروری نه دی اوښځه که مدخوله ده نوټول مهر واجب دی اوکه ددخول اودخلوت څخه مخکی طلاق ورکړی نونيم مهر به لازم وی.

چې کمه ښځه يې پرينبوولـه ديته طلاق ورکول ضروري دی: **سوال**: (۹۴) ددوو کالو راهيسی ما خپله ښځه پرې ايښی ده طلاق می نه دی ورکړی اودا طلاق غواړی آيا طلاق ورکول ضروری دی؟
جواب: په درمختار کی دی: ويجب لوفات الامساك بالمعروف. (۳) يعنی که ښځه ښه ونه ساتل سی او ددی حقونه ادا نه سی نو طلاق ورکول ضروری دی.

دشرابو په نشه کی په طلاق ورکولو سره طلاق کيږي اوکه نه؟ **سوال**: (۹۵) يوسړی خپلی ښځی ته دشرابو په نشه کی دری طلاقه ورکړل په حالت دنشه کی طلاق واقع کيږی اوکه نه؟
جواب: په حالت دنشۀ مذکوره کی دده پرښځی دری طلاقه واقع سوه لکه چې په شامی کی دی: وفي التتارخانية طلاق السكران واقع اذا سكر من الخمر والنبيذ وهو مذهب اصحابنا. (۴) فقط

په نشه کی چې کم طلاق ورکول سو ددی څه حکم دی؟ **سوال**: (۹۶) زيد نشه وکړه او ښځی ته يې طلاق طلاق ووايه او دخلګو دوهلو او ټکولو په وجه طلاق طلاق وايی ولاړی دری ورځی وروسته دخپلی ښځی څخه دخپل قصور معافی غواړی اودطلاق دوجه په معلومولو باندی خپله لاعلمی ښکاره کوی، غرض دا چې په حالت دنشه کی يې خپلی ښځی ته څوواره طلاق طلاق ويلی دی نودا طلاق واقع سو اوکه نه؟ اوکه واقع سو نو کم يو سو؟ په مجنون او سکران کي څه فرق دی؟ دأردو په کتابو کي ليکلي دي

(۱) الدرالمختار على هامش ردالمحتار فصل في المحرمات ج۲ ص۴۰۲، ط. س. ج۳ ص۵۰. ظفير
(۲) ويجب لو فات الامساك بالمعروف فالظاهر انه استعمل لا باس ابتداء هنا للوجوب الخ (ردالمحتار فصل في المحرمات ج۲ ص۴۰۲، ط. س. ج۳ ص۵۰). ظفير
(۳) الدرالمختار على هامش ردالمحتار كتاب الطلاق ج۲ ص۵۷۲، ط. س. ج۳ ص ۲۲۹. ظفير
(۴) رد المحتار كتاب الطلاق ج۲ ص۵۵۴، ط. س. ج۳ ص ۲۴۱. ظفير

چي دمجنون طلاق نه واقع کيږي اودسکران طلاق واقع کيږي حال داچي دواړه فاتر العقل دی!

جواب: په شامی کی دی: وفی التتارخانية طلاق السكران واقع اذا سكر من الخمر والنبيذ وهومذهب اصحابنا (۱). نوپه موجب ددی روايت په مسئله کی دزيد ښځه طلاقه سوه بياکه زيد لفظ دطلاق دری يا ددی څخه زيات وروسته ويلی وی نودده ښځه مغلظه بائنه سوه رجوع صحيح نه ده اونوی نکاح هم بی له حلالی صحيح نه ده اوکه لفظ دطلاق يی دوه واره ويلی وی نوپه دی کی رجوع په عده کی صحيح ده اودعدی څخه وروسته نکاح جديد هم کيدی سی خو دسوال دښکاره څخه دزيد څلور واره لفظ دطلاق ويل ښکاره کيږی چی دوه واره يی په خپله په حالت دنشه کی وويل اودوه واره دخلگو په وهلو ټکولو نوکه په واقع کی داسی وي اودا تکرار دعبارت نه وی نوپه دی صورت کی دری طلاقه دده پرښځی واقع سوه اوجديده نکاح بی له حلالی څخه صحيح نه ده او که څه هم په دی کی شك نسته چی دمجنون په شان سکران هم فاتر العقل دی، ليکن په مقدمه دطلاقو کی دده داسکر چی دهغه صحيح تعريف دادی چی په وجه دنشی په آسمان او مځکه کی فرق نه کوی (۲) دزجر او توبيخ په غرض دا ناقابل اعتبار تصور سويدی اوپر ځای دفاتر العقل يی قائم العقل گرځولی دی لکه چی ددرمختار ددی عبارت: ويقع طلاق كل زوج بالغ عاقل ولوتقديراً ليدخل (۳) السكران، څخه داخبره صفا ښکاره ده چی سکران زجراً په لزوم داحکامو کی پرمنزله دهوښيار اوپه حکم دعاقل کی دی په خلاف دمجنون يعنی داسی سړی چی دده په دماغو کی پيدائشي څه نقصان وی او يا دڅه آفت اودصدمی دوجه داسی خلل واقع سوی وی چی دهغه په وجه دښه اودبدو امتياز ورته باقی نه وی نه په يو کارکی دده نظر په فائده اوپه تاوان کی په حکم دحديث رفع القلم عن الثلاثة (۴) ددی حکم څخه خارج دی لکه چی ددرمختار ددی عبارت څخه ښکاره ده نو دده دطلاق هيڅ اعتبار نسته اوهم ددی وجه څخه په حالت دجنون کی دمجنون دطلاق متعلق دعدم وقوع حکم دی (۵). فقط

---

(۱) ردالمحتار کتاب الطلاق ج۲ ص ۵۸۴. ظفير

(۲) السكر سرور يزيل العقل فلا يعرف به السماء من الارض وقالا بل يغلب على العقل فيهذی فی كلامه الخ قال فی البحر والمعتمد فی المذهب الاول (ردالمحتار کتاب الطلاق ج۲ ص۵۸۲، ط. س. ج۳ ص ۲۳۹). ظفير

(۳) الدرالمختار علی هامش ردالمحتار کتاب الطلاق ج۲ ص۵۷۹، ط. س. ج۳ ص۲۳۵، قوله ليدخل السكران فانه فی حكم العاقل (حواله ردالمحتار ايضا). ظفير

(۴) مشكوٰة باب الخلع والطلاق ص ۲۸۴. ظفير

(۵) ولايقع طلاق المولی علی عبده الخ والمجنون درمختار) قال فی التلويح الجنون اختلال القوة المميزة بين =

دطلاق وركولو په وخت كې دشاهد شتون ضروري نه دي: **سوال:** (۹۷) لكه څنګه چې دصحت دعقد دپاره ددوو كسانو شاهدي ضروري ده دطلاق په باب كې ولې حضور دشاهدانو ضروري نه ګڼل كيږي اوپه ادئي سبب سره هم طلاق واقع كيږي؟

جواب: دشريعت حكم هم داسې دي چې نكاح بې دشاهدانو صحيح نه ده اودطلاقو دپاره داشرط نه دي (۱) پرمونږ دشريعت پابندي لازمه ده دچون او چرا اجازه نسته (په نكاح كې اعلان ضروري دي چې دا دناجائزه تعلق څخه ممتاز سي په طلاق كې ددې ضرورت نسته. ظفير).

په يوازې والي كې په طلاق وركولو سره هم طلاق كيږي: **سوال:** (۹۸) كه طلاق يې دچا په مخكې نه وي وركړى نو واقع كيږي اوكه ونه؟ اومهر وركول به وي اوكه نه؟

جواب: طلاق هرركم واقع كيږي كه څوك وي اوكه نه (۲) مهر لازم دي.

ښځه چې كله په اختيار كې نه وي نوخاوند څه وكړي؟ **سوال:** (۹۹) دچا ښځه كه دده په اثر كې نه وي اوعلى الاعلان دشريعت خلاف كارونه كوي نوسړى لره څه كول په كاردي؟

جواب: دا پوهول په كاردي په داسې حالت كې په وهلو تنبيه وركول هم صحيح دي او طلاق وركول شرعا په داسې حالت كې واجب نه دي بلكې تركمه چې ممكنه وي نو اصلاح دې وسي او دادې پوه سي. (۳) فقط

دښځې په تښتېدو سره نكاح نه ماتيږي: **سوال:** (۱۰۰) يوه ښځه دخاوند دكور څخه وتښتېده اودمور او پلار كره ولاړه نونكاح ماته سوه اوكه نه؟ اومهر ساقط سو اوكه نه؟

جواب: ديوكور څخه بل كورته په تللو سره نكاح نه ماتيږي اوپه نكاح كې هيڅ فرق نه راځي (۴) ددې وجه څخه په دې صورت كې نكاح قائمه ده فسخ نه ده خوداسې كول بددي او ددومره ورځو نفقه به ساقطه وي. (۵) فقط

= الامور الحسنة والقبيحة الخ (ردالمحتار كتاب الطلاق ج۲ ص۵۸۶، ط. س. ج۳ ص۲۴۲). ظفير

(۱) وفي البحر قيدنا الاشهاد بانه خاص بالنكاح (ردالمحتار كتاب النكاح ج۲ ص۳۷۳. ط. س. ج۳ ص۲۱). ظ

(۲) دوقوع دطلاق دپاره دچا په خواكې شتون شرط نه دى. ظفير

(۳) قال الله تعالى والتى تخافون نشوزهن فعظوهن واهجروهن فى المضاجع واضربوهن فان اطعنكم فلاتبغوا عليهن سبيلا (سورة النساء) لايجب على الزوج تطليق الفاجرة ولا عليها تسريح الفاجر الا اذا خافا ان لا يقيما حدود الله فلا باس ان يتفرقا (درمختار) الفجور العصيان كما فى المغرب (ردالمحتار فصل فى المحرمات ج۲ ص۴۰۲، ط. س. ج۳ ص۵۰) بل يستحب لو موذية اوتاركة صلوة ومفاده ان لا اثم بمعاشرة من لا تصلى (الدر المختار على هامش ردالمحتار كتاب الطلاق ج۲ ص۵۷۲، ط. س. ج۳ ص۲۲۹). ظفير

(۴) نكاح خاوند ماتولى سي ياپه وخت دضرورت كې قاضي اوهم ددې وجه څخه ښځې ته دا اختيار نسته لان الطلاق لايكون من النساء (الدرالمختار على هامش ردالمحتار ج۲ ص۵۷۲، ط. س. ج۳ ص ۱۹۰). ظفير

(۵) لا نفقة لخارجة من بيته بغير حق وهي الناشزة (الدرالمختار على هامش ردالمحتار باب النفقة ج۲ =

دښځې نوم اختري وو او وې ويل اترې ته دې طلاق وې نوڅه حکم دې؟ سوال: (۱۰۱) عبد الکريم خپلې ښځې زيب النساء ته په دې نوم سره طلاق ووايه چې ما ترې ته درې طلاقه ورکړيدې خو دښځې نوم اختر النساء ده اوپه کوچنې والې به ورته خلګو اختري ويله او دده ښځه داترې په نوم مشهوره نه ده اوعبد الکريم په سخت قسم سره وايي چې زما نيت دښځې دطلاق نهٔ ددې وجه څخه ما داختري پرځاى اترې وويل چې زما ښځه وبيريږي، په دې صورت کې دعبدالکريم پرښځې طلاق واقع دې اوکه نه؟

جواب: که داترې په نوم ديته اواز نه کيږي نواترې ته په درې طلاق ورکولو سره دعبد الکريم پر ښځه اختر النساء يا اختري باندې طلاق نه واقع کيږي ځکه چې اضافت الى الزوج دوقوع دطلاق دپاره ضروري دی که څه هم اضافت معنوية وي کالخطاب والاشاره په درمختار کې دي: قيد بخطابها لانه لو قال ان خرجت يقع الطلاق الخ لم يقع لترکه الاضافة اليها الخ وفى ردالمحتار قوله لترکه الاضافة اى المعنوية فانها الشرط والخطاب من الاضافة المعنوية الخ وکذا الاشارة نحو هذه طالق وکذا نحو امرأتى طالق وزينب طالق [1] ص۴۳۹ جلد ثانى کتاب الطلاق، شامى. خوکه خاوند داويلي وي چې ما وخپلې ښځې اترې ته درې طلاقه ورکړل نو دده ښځه مطلقه ثلاثه کيږي. فقط

ښځې ته (ښځه دبل چا) په ليکلوسره طلاق نه واقع کيږي: سوال: (۱۰۲) هنده دزيد په نکاح کې وه وروسته بيا زيد هندې ته طلاق ورکې هندې عدت تيره کړه اودبکر سره يې نکاح وکړه اوس بکر چې موجوده خاوند دی په يو مصلحت سره کرايه بهى يا په سرکاري بهى کې هنده زوجه دزيد وليکل او قصد دبکر دطلاقو نه وو اونه دي، دبکر ددې مصلحت يا دتدبير دا نتيجه خوبه نه وي چې هندې ته دبکر دطرفه طلاق واقع سي؟

جواب: هنده ښځه دزيد په ليکلوسره پرهندې دموجوده خاوند دبکردطرفه طلاق هم واقع نه سو اودا ليکل خطا دي او ياپه اعتبار دسابق دي يعنى مطلب ددې دادې چې هنده پخوانې ښځه دزيد، په درمختارکې دي چې که دخپلې ښځې نکاح ددوهم سره هم وکړې نو بغير دنيت دطلاقو څخه پردې به طلاق نه واقع کيږي او ددې بل سره نکاح به ددې ښځې صحيح نه وي: وفى القنية زوج امرأته من غيره لم يکن طلاق ثم رقم ان نوى طلقت، در مختار [2]، خو په دې صورت کې دا هم ونه سو چې دغير سره ددې نکاح کيدله ددې

= ص۸۹۰، ط. س. ج۳ ص۵۷۵ – ۵۷۲). ظفير

[1] وګورئ ردالمحتار کتاب الطلاق باب الصريح ج۲ ص۵۹۰، ط. س. ج۳ ص ۲۴۸) الاصل انه متى وجدت النسبة وغير اسمها بغيره لايقع الطلاق لان التعريف لايحصل (البحر الرائق باب طلاق الصريح ج۳ ص۲۷۳). ظ

[2] الدرالمختار على هامش ردالمحتار کتاب الطلاق باب الکنايات ج۲ ص۷۵۲، ط. س. ج۳ ص۳۱۴، سئل =

وجه څخه دلته هیڅ قسم طلاق به نه وی واقع.

<u>په حالت دحمل کی طلاق واقع کیږی اوکه نه؟</u> سوال: (۱۰۳) یوه ښځه په مرض ولیونتوب باندی اخته سوه هغه به په خپل کورکی نه اوسیدله یوی خوا اوبلی خواته به گرځیدله په حالت دناجوړی کی دانښځه حامله سوه ددی څخه وروسته دانښځه ښه سوه اوس ددی خاوند دحامله کیدو په وجه دیته طلاق ورکول غواړی نوطلاق جائز دی اوکه نه؟

جواب: په حالت دحمل کی طلاق واقع کیږی اوعده ددی وضع دحمل (۱) ده اودا حمل به دخاوند گڼل کیږی یعنی ددی بچی نسب به دخاوند څخه ثابت وی اوتفصیل په دی کی دا دی چی که طلاق رجعي وی نودوه کاله او ددی څخه په زیات کی هم که وضع دحمل وسی نونسب دبچی به دده څخه ثابت وی شرط دادی چي ښځی دعدی دتیریدو اقرار نه وی کړی اوکه مطلقۀ بائنه ده نو ددوو کالو څخه که په کم کی بچی پیدا سو نونسب به یې دده څخه ثابت وی کنې نو نه به وي کذا فی الدرالمختار (۲).

<u>خاوند وویل چی کمه ښځه دخاوند خبره نه منی نو پرهغې طلاق واقع کیږی او بیا دی دخاوند په نصیحت عمل ونه کی</u>: سوال: (۱۰۴) زید په سفر کی دتللو په وخت خپلی ښځی ته نصیحت وکی چی ستا دورور به واده وی که هلته څه کار خلاف دشریعت وی نوته ددغه ځای څخه بیرته راسه او دایی هم وویل چی کمه ښځه دخاوند خبره نه منی نوهغه طلاقیږی، ښځی دانصیحت قبول کی په سفر باندي دزید دتللو څخه وروسته ښځه واده ته ولاړه اودشریعت خلاف په کارونو دهغه ځای څخه بیرته رانغله نوطلاق وسو اوکه نه؟

جواب: په دی صورت کی طلاق واقع نه سو (۳).

<u>بی علمه په دهوکه سره اقرارنامه په بل لیکلو اودستخط کولوسره طلاق نه واقع کیږی</u>: سوال:

= الك امرأة فقال لا، لا تطلق اتفاقا وان نوی (درمختار) ومثله قوله لم اتزوجك اولم یکن بیننا نکاح الخ والاصل ان نفی النکاح اصلاً لایکون طلاقابل یکون جحود (ردالمحتارباب الصریح ج۲ص۲۲۳، ط. س. ج۳ص۲۸۳). ظ

(۱) (وفی حق الحامل) مطلقا ولو امة او کتابیة او من زنا بان تزوج حبلی من زنا ودخل بها ثم مات اوطلقها تعتد بالوضع (وضع جمیع حملها) (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب العدة ج۲ ص۸۳۱، ط. س. ج۳ ص۵۱۱).

(۲) فیثبت نسب ولد معتدة الرجعي الخ وان ولدت لاكثر من سنتین ولو لعشرین سنة فأكثر لاحتمال امتداد طهرها وعلوقها في العدة ما لم تقر بمضي العدة وكانت الولادة رجعة لو في الأكثر منهما لا في الأقل كما في مبتوتة جاءت لأقل منهما من وقت الطلاق ولم يقر بمضي العدة وكانت الولادة رجعة لو في الاكثر منهما لا في الاقل كما في مبتوتة جاءت لأقل منهما من وقت الطلاق ولم تقر بمضيها ولو لتمامها لا يثبت النسب (ایضا فصل فی ثبوت النسب ج۲ ص۷۵۷ – ۷۵۸، ط. س. ج۳ ص۵۴۹). ظفیر

(۳) دنصیحت په خلاف ورزی سره طلاق نه واقع کیږی شرعاً: رفع قید النکاح فی الحال بالبائن او المآل بالرجعی بلفظ مخصوص هو ما اشتمل علی الطلاق (درمختار) ای علی مادة ط، ل، ق، صریحا مثل انت طالق اوکنایة کمطلقة بالتخفیف الخ (ردالمحتار کتاب الطلاق ج۲ ص۵۷۰ – ۵۷۱، ط. س. ج۳ ص ۲۲۷). ظفیر

(**۱۰۵**) دزید واده دبکر دلور سره وسو اودعقد څخه مخکې یوبیع مقاسه دمهر وسوه او ددې سره یوه اقرارنامه په بنګالې ژبه رجسټرسوه زیدته دواړه کاغذونه واورول سوه خوزید په بنګالې نه پوهیدې زید خیال وکې چې صرف دمهر رجسټرې ده حاصل دکلام دادې چې دا اقرار نامه جعلي اودهوکه ده، ډیره موده وسوه بکر خپله لور هم رخصت نه کړه اودمهر دعوه یې وکړه او ډګرې یې حاصله کړه بکر وایي په وجه داقرار نامې طلاق واقع سو اوس واده نه سي کیدې نوپه دې صورت کې شرعي څه حکم دی؟

جواب: چې ترڅو زید ته داعلم نه وي چې په اقرار نامه کې څه شرطونه دي نودا اقرار نامه دزید دطرفه دزید څخه نه منل کیږي اوچې کله داشرطونه زید ته قبول نه دي نو په تحقق دشرط سره طلاق هم واقع نه سو (۱).

که فلانی کار مې کړی وي نوزما ښځه طلاقه بیا ورپه یاد سوه چې کړی مې دی نو اوس څه وکړي؟

سوال: (۱۰۶) زید قسم واخیستی چې که ما فلانی کار کړی وي نو زما ښځه به طلاقه وي په وخت دقسم دده یقین وو چې ما داکار نه دی کړی ددې یقین پربناء ده دا قسم واخیستی څو ورځې وروسته ورته یاد سوه چې ما داکار دقسم کولو څخه مخکې کړی وو نوپه دې صورت کې طلاق واقع سو اوکه نه؟

جواب: په دې صورت کې دده ښځه طلاقه سوه. کما في الدرالمختار ولو الحالف مکرها او مخطئًا او ذاهلاً اوناسیًا الخ (۲).

دچا پرښځه څوک ناجائزه قبضه وکړي نوآیا پرښځې والا باندې طلاق ورکول ضروري دي؟

سوال: (۱۰۷) دزید ښځه هنده عمر په ناجائزه ډیره موده داسې دخپل ځان سره ساتلې وه عمر زید ته وایي چې ته خپلې ښځې هندې ته طلاق ورکړه اوزید یې نه مني اووایي چې زما ښځه هنده ماته وسپاره خوعمر تراوسه داسې کولو ته تیار نه دی، نوپه دې صورت کې زید ته به دیوث ویل کیږي اوکه نه؟ اوشرعًا پرزید طلاق ورکول واجب دی اوکه نه؟

جواب: په دې صورت کې عاصي فاسق ظالم عمر دی، زید مظلوم دی ده ته دده دښځې رسیدل په کاردي او دزید پرذمه طلاق ورکول لازم اوواجب نه دي. قال في الدرالمختار لا یجب علی الزوج تطلیق الفاجرة الخ (۳). (په دې کې ګنهګار اوظالم هغه سړی دی چې

---

(۱) ولو استکتب من آخر کتابا بطلاقها وقرأه علی الزوج وختمه وعنونه وبعث به إلیها وإن لم یقر أنه کتابه ولم تقم بینة لکنه وصف الأمر علی وجهه لا تطلق قضاء ولا دیانة وکذا کل کتاب لم یکتبه بخطه ولم یمله بنفسه لا یقع الطلاق ما لم یقر أنه کتابه (ردالمحتار کتاب الطلاق مطلب في الطلاق بالکتابة ج۲ ص۵۸۹، ط. س. ج۳ ص ۲۴۷ – ۲۴۶). ظفیر

(۲) وګوری الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ط. س. ج۳ ص۷۰۹. ظفیر

(۳) الدرالمختارعلی هامش ردالمحتارفصل فی المحرمات ج۲ ص۴۰۲، ط.س. ج۳ ص ۵۰، لوزنت امراة رجل =

چا دبل پرښځی په زور قبضه کړیده او دزنا مرتکب دی. قال رسول الله ﷺ لایزنی الزانی حین یزنی وهو مومن فایاکم ایاکم. متفق علیه مشکوٰة شریف باب الکبائر ص۱۷ ظفیر)

چې دښځې دخود کشی په وجه دبیری څخه طلاق نامه ولیکی نوطلاق کیږی اوکه نه؟

سوال: (۱۰۸) دیو سړی پرښځی لیونتوب دی یوه ورځ دښځی او دخاوند په مینځ کی تکرار وسو ښځی خاوند ته وویل چی ماته طلاق نامه ولیکه زه ستاسره نه اوسیږم او توره یی په لاس کی واخیسته اووی ویل چی که طلاق نه لیکی نوخپله مرۍ به باندی پرې کړم او ځان به ووژنم دخاوند اراده دزړه څخه دطلاقو نه وه خو دښځی په دباؤ یی طلاقنامه ولیکله او دری طلاق یی ولیکل اوښځی ته یی واورول او دایی وویل چی پر دی شاهدان جوړوم نو دربه یی کړم په دی خیال چی کله دښځی څخه حالت دجنون ختم سی اوغصه یی کمه سی نوپوه به سی نوچی کله دښځی غصه ختمه سوه نو افسوس یی وکی په دی صورت کی ښځه خاوند ته مباح ده اوکه نه؟

جواب: په دی صورت کی ددی سړی پرښځی دری طلاقه واقع سوه (۱). لقوله ﷺ ثلث جدهن جد وهزلهن جد. الحدیث (۲). بی له حلالی داښځه دی خاوند ته حلاله نه (۳) ده.

په زړه کی په دی سوچ چی طلاق دی یا داچی نه به یی ساتم طلاق به نه وی: سوال: (۱۰۹) یوهلك چی دهغه عمر څوارلس پنځلس کاله دی ده پرخپله ښځه په غصه کی په زړه کی داخیال وکی چی اوس به دانه ساتم اودی ته طلاق دی دری څلور ورځی وروسته یی دښځی سره کوروالی وکی نوطلاق وسو اوکه نه؟

جواب: که صرف په زړه کی یې داخیال کړی وی چی اوس به دانه ساتم او دیته طلاق دی نو په دی سره طلاق واقع نه سو اوکه دالفظ چی دیته طلاق دی په ژبه یی ویلی وی نو طلاق رجعی واقع سو بیا چی کله ده ورسره کوروالی وکی نو رجوع وسوه نو ددی وجه څخه دا دده ښځه ده.

دروپو اودکالیو په تښتولوسره طلاق نه واقع کیږي: سوال: (۱۱۰) زما ښځي دسهار په وخت کي زما په بی خبری کي زما دکوره زما اوزما دمور او پلار اوه سوه نقد یووړه او دارنګه زما دضعیفو والدینو نژدي دڅلورو سوو روپو سره زر یې یووړه اوخپل کور ته ولاړه په

= لم تحرم علیه وجاز له وطؤها عقب الزنا (ردالمحتار فصل فی المحرمات ج۲ ص۳۸۲، ط. س. ج۳ ص۳۴). ظفیر

(۱) کتب الطلاق ان مستبینا علی نحو لوح وقع وقیل مطلقا (درمختار) نوی اولم ینو (ردالمحتار کتاب الطلاق ج۲ ص۳۸۹، ط. س. ج۳ ص ۳۴۲). ظفیر

(۲) مشکوٰة باب الخلع والطلاق ص ۲۸۴. ظفیر

(۳) وان کان الطلاق ثلثا فی الحرة لم تحل حتی تنکح زوجا غیره نکاحا صحیحا ویدخل بها ثم یطلقها اویموت عنها والاصل فیه قوله تعالی فان طلقها فلاتحل حتی تنکح زوجا غیره (هدایه باب الرجعة ج۲ ص۳۷۹). ظفیر

کوشش کولو سره کالي اوځلور سوه روپی خو راکول سوی او باقی وصول نه سوی نو په دی صورت کی دا ښځه زما په نکاح کی ده اوکه نه؟

جواب: نکاح قائمه ده (۱).

په پنسل سره پرکارډ دطلاق لفظ ولیکی او ښځی ته یی ولیږی نو طلاق به وسی: **سوال:** (۱۱۱) یو هلك دشلو کالو اوانجلی دلسوکالو ده چی ددوی یوځای کیدل لا نه دی سوی هلك پریو کارډ چی په پنسل پرهغه کی لیکل سوی وو یولفظ دطلاقو ولیږی یاپه خفګان کی یی ورته یوطلاق ولیکی نوطلاق به واقع وی اوکه نه؟

جواب: په پنسل لیکل سوی وی اوکه دخفګان په وجه خو چی خاوند لفظ دطلاق خپلی ښځی ته ولیکی اووی لیږی که څه هم دبل په ذریعه یی لیږلی وی نو دیته یوطلاق واقع سو (۲) اوښځه چی غیر مدخوله ده نوپه یوه طلاق بائنه سوه اوعده لازمه اورجوع بغیر دنکاح صحیح نه ده اونوی نکاح بغیر دحلالی کولی سی (۳).

داوولسو کالو دهلک طلاق واقع سو: **سوال:** (۱۱۲) دزید عمر داوولسو کالو دی زید خپلی ښځی ته طلاق ورکی نوواقع سو اوکه نه؟ زید ته نابالغ وایی.

جواب: شرعا دپنځلسو کالو په عمر پوره کیدو باندی بالغ کیږی (۴) نوزید چی داوولسو کالو دی دده طلاق واقع سو کذا فی الدر المختار (۵).

په حالت دلیونتوب کی طلاق نه واقع کیږی: **سوال:** (۱۱۳) یوسړی دجنون په حالت کي ښځی ته طلاق ورکی نو طلاق واقع سو اوکه نه؟

جواب: په حالت دجنون کی طلاق نه واقع کیږی. قال ﷺ رفع القلم عن ثلثة عن النائم حتٰی یستیقظ وعن الصبی حتٰی یبلغ وعن المجنون حتٰی یفیق (۶) او کما قال ﷺ.

---

(۱) دښځی په دی حرکت طلاق نه کیږی ځکه چی داحق دسړی دی خو ددی داکار دبدنامی سبب دی ځان ساتل ځینی په کاردی: لان الطلاق لایکون من النساء (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب نکاح الکافر ج۲ ص۵۳۲، ط. س. ج۳ ص۱۹۰). ظفیر

(۲) وان کانت مرسومة یقع الطلاق نوی اولم ینوی (ردالمحتار کتاب الطلاق ج۲ ص۵۸۹، ط. س. ج۳ ص۲۴۲).

(۳) قال لزوجته غیر المدخول بها انت طالق ثالث الخ وقعن وان فرق بانت بالاولی (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب طلاق غیر المدخول بها ج۲ ص۲۲۴، ط. س. ج۳ ص۲۸۴) وینکح مبانته بمادون الثلاث بالعدة وبعدها بالاجماع ومنع غیره فیها (ایضا باب الرجعة ج۲ ص۷۳۸). ظفیر

(۴) بلغ الغلام بالاحتلام والاحبال والانزال الخ فان لم یوجد فیهما شيء حتی یتم لکل منهما خمس عشرة سنة به یفتی (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار فصل فی بلوغ الغلام ج۵ ص۱۳۲، ط. س. ج۲ ص۱۵۳). ظفیر

(۵) ویقع طلاق کل زوج اذا کان عاقلا بالغا ولا یقع طلاق الصبی والمجنون والنائم (هدایه کتاب الطلاق ج۲ ص ۳۳۸). ظفیر

(۶) وګوری مشکوٰة باب الخلع والطلاق ص۲۸۴ ولایقع طلاق الصبی والمجنون (هدایه ج۲ ص ۳۳۸). ظفیر

دځوارلسو کالو او دلسو ورځو په عمرکې يې طلاق ورکې نو واقع سو اوکه نه؟ **سوال:** (۱۱۴) ديوسړي عمر څوارلس کاله اولس ورځې دی ده خپلې ښځې ته طلاق ورکې نوطلاق واقع سو اوکه نه؟

جواب: که څه علامې دبلوغ دانزال وغيره نه وی نوهلك پوره دپنځلسو کالو په عمر کی بالغ ګڼل کيږی اوددی څخه مخکې بالغ نه ګڼل کيږی وروسته که په ده کی څه علامه دبلوغ لکه انزال او احتلام وی نوطلاق دده واقع دی [1] اوکه څه علامه دبلوغ نه وی نو دڅوارلسو کالو او دلسو ورځو والا هلك طلاق به واقع نه وی [2].

ښځې زنا وکړه او خاوند معاف کړه نوڅه حکم دی؟ **سوال:** (۱۱۵) يوی ښځې دخپل ليور سره زنا وکړه دښځې خاوند وويل چې ته زما څخه طلاق واخله او دده سره نکاح وکړه ښځه دخاوندڅخه دقصورمعافی غواړی نوسړی ته په دی صورت کی څه کول په کاردی؟

جواب: چې کله دابنځه توبه وکاړی نو ددی پريښوول اوطلاق ورکول ضروری نه دی [3] ددی قصور دي معاف کړی او دبيا دپاره دي په دی توبه وکاړی اودالله ﷻ څخه دی معافی وغواړی.

ولی طلاق نه سی ورکولی اونه دده طلاق واقع کيږی: **سوال:** (۱۱۶) چې دچاپه ولايت سره نکاح کيږی دده يا دده څخه وروسته چې کم ولی جائز موجود دی، دهغه په ذريعه خلع طلاق وغيره کيدی سی اوکه نه؟

جواب: دطلاق اختيار ماسوٰی دخاوند څخه بل چاته نسته. قال فی الدرالمختار ويقع طلاق کل زوج بالغ عاقل الخ والصبی ولو مراهقا [4]. او په ابن ماجه کی حديث دی: انما الطلاق لمن اخذ الساق الحديث [5]. نو يو ولی هم دصغير خاوند دطرفه دطلاقو مجاز نه دی.

ښځه وتښتيدله نوخاوندڅه وکړی؟ **سوال:** (۱۱۷) ديوسړی ښځه دکالوجامولوښووغيره سره

---

[1] بلوغ الغلام بالاحتلام والاحبال والانزال الخ فان لم يوجدفيهما شيء فحتى يتم لكل منهما خمس عشرة سنة به يفتى (الدرالمختار على هامش ردالمحتار فصل بلوغ الغلام ج۵ ص۱۳۲. ط. س. ج۲ ص۱۵۳) ويقع طلاق كل زوج اذا كان عاقلا بالغا (هدايه كتاب الطلاق ج۲ ص۳۳۸). ظفير

[2] ولا يقع طلاق الصبى والمجنون والنائم (هدايه كتاب الطلاق ج۲ ص ۳۳۸). ظفير

[3] ولايجب على الزوج تطليق الفاجرة (الدرالمختار على هامش ردالمحتار فصل فى المحرمات ج۲ ص۴۰۲) لو زنت امراة ورجل لم تحرم عليه وجاز له وطؤها عقب الزنا (ردالمحتار فصل فى المحرمات ج۲ ص۳۸۲، ط. س. ج۲ ص۳۴). ظفير

[4] وګوره الدرالمختار على هامش ردالمحتار كتاب الطلاق ج۲ ص۵۷۹ – ۵۸۰، ط. س. ج۲ ص ۳۴. ظفير

[5] وګوره ابن ماجه ابواب الطلاق ص ۱۵۱. ظفير

دشپې وتښتیدله، ددې خاوند لره څه کول په کاردي دا وساتي اوکه نه؟
جواب: داسې ښځه که ساتي نوساتلې يې سي په شريعت کې طلاق ورکول پرده واجب او لازم نه دي اوکه دموافقت نه کیدو او ددې ښځه دنفرت په وجه طلاق ورکړي نوهم صحيح (۱) ده.

دطلاق په معنٰی نه پوهيدې اوطلاق يې ورکې نوهم طلاق صحيح سو: سوال: (۱۱۸) که خاوند په خپل عرف کې دطلاق ذکر کوي اودلفظ په معنٰی بالکل نه پوهيږي اوښځه ده ته ووايي چې ماته درې واره ووايه طلاق مې درکې اودطلاق په معنٰی بالکل نه پوهيږي نو طلاق به صحيح سي اوکه نه؟
جواب: په لفظ دطلاق ويلو سره بې له پوهې هم طلاق کيږي (۲).

درې واره يې وويل چې زه به تاته طلاق درکړم نوطلاق صحيح سو اوکه نه؟ سوال: (۱۱۹) زيدخپلې ښځې ته په غصه کې وويل زه به تاته طلاق درکړم آياطلاق صحيح سواوکه نه؟
جواب: په مذکوره الفاظو سره طلاق واقع نه سو ځکه چې دمستقبل په لفظ ويلو سره طلاق نه کيږي (۳). کذا فی العالمکيريه وغيرها لانه وعد (۴).

په خيال کې يې طلاق راغې او بيا يې کرار په ژبه هم راغلې نوطلاق وسو اوکه نه؟ سوال: (۱۲۰) دنکاح کيدو څخه زه لږ ساعت وروسته دده پر زړه اوپه ژبه شيطاني وسوسه او فاسد خيالات خود بخوده بې له نيت اوقصد اوارادې جاري سوه چې تا فلانۍ قبوله کړه او که نه؟ ما ونه کړه ما داپرې اينبې ده، اوپه زړه کې يې خيالات فاسدسوه بې ارادې يې دژبې څخه کرار يولفظ دطلاق هم وتلې وي نوددې سړي نکاح صحيح پاته سوه اوکه نه؟
جواب: په داسې وسوسو اوخيالاتو او وهمي حرکت دژبې سره طلاق نه کيږي اونکاح نه ماتيږي لکه چې په درمختار کې دي: وادنٰی المخالفة السماع نفسه ومن يقربه الخ ويجرى ذالک المذکور فى کل مايتعلق بنطق کتسمية على ذبيحة الخ وعتاق وطلاق الخ (۵).

چې په عقل کې نقصان وي نو طلاق واقع کيږي او که نه؟ سوال: (۱۲۱) جواب دفتوٰی را

---

(۱) ولا يجب على الزوج تطليق الفاجرة الخ الا ان يخافا ان لايقيما حدود الله فلاباس ان يتفرقا (الدرالمختار على هامش ردالمحتار فصل فى المحرمات ج۲ ص۴۰۲، ط. س. ج۲ ص۵۰). ظفير

(۲) صريحه ما لم يستعمل الا فيه کطلقتك وانت طالق الخ يقع بها اى بهذه الالفاظ وما بمعناها من الصريح ويدخل نحو طلاغ الخ بلا فرق بين عالم وجاهل (ايضا کتاب الطلاق باب الصريح ج۲ ص۵۹۰، ط. س. ج۳ ص۲۴۷). ظفير

(۳) او انا اطلق نفسى لم يقع لانه وعد (الدرالمختار على هامش ردالمحتار ج۲ ص۷۵۷، ط. س. ج۳ ص۳۱۹).

(۴) عالمگيرى مصرى ج۱ ص ۳۸۷. ظفير

(۵) الدرالمختار على هامش ردالمحتار فصل فى القراءة ج۱ ص۴۹۸ – ۴۹۹، ط. س. ج۲ ص ۵۳۵. ظفير

ورسیدی ستاسی دتحریر څخه دوی وجه دطلاق نه کیدو سته یو داچی نه دوه شاهدان سته دطلاق، دوهم داچی خاوند اقرار کوی شاهدان خو دوه دی یومشر ورور چی دهغه بیان لیکل سویدی اودوهم دده رشته دار یعنی چی چا طلاق ویلی دی اوپه حقیقت کی دی په سخت مرض کی ضرور اخته وو اوس څه حکم دی؟

جواب: اقول وبالله التوفیق په شامی کی دی: وکذا یقال فیمن اختل عقله لکبر او لمرض او لمصیبة فاجأته فمادام فی حال غلبة الخلل فی الاقوال والافعال لا تعتبر اقواله الخ (۱) نو چی کله په وجه دشدت دمرض څخه دده عقل دغه وخت کار نه کوی اوپه قول دطبیب حاذق دی داسی مریض هم وو نو په دی حالت کی دده طلاق واقع نه سو. فقط

پرطلاقو باندی صرف په دستخط کولوسره طلاق کیږی اوکه نه؟ **سوال**: (۱۲۲) یوسړی خپلی ښځی ته په ژبه سره لفظ دطلاقو ونه وایه بلکی مصدی چی کمه طلاق نامه لیکلی وه پر هغه یی دستخط وکی نوپه دی سره طلاق واقع سو اوکه نه؟

جواب: دطلاق نامی مضمون یی واوریدی اوپه طریقه دتصدیق دمضمون په دستخط کولو سره شرعا طلاق واقع کیږی کذا فی الشامی (۲) (که دادستخط یی په رضا کړی وی او دبل چا په زور سره نه وی).

شراب یی باندی وچښل او په بی خبری کی یی پرساده کاغذ دده څخه ګوته ولګوله او بیایی پردی طلاقنامه ولیکله، نو څه حکم دی؟ **سوال**: (۱۲۳) دیوسړی دښمنانو دوثیقه فروش او دعارضه نویس سره ملګري وکړه اوپه یو موقع یی په دی سړی شراب وچیښل اودده دطرفه یی یو سټامپ دطلاقنامی واخیستی اودده څخه یې هم ددی نشی په حالت کی پر رجسټر اوپر دی سپین کاغذ باندی ګوته ولګوله اوبیا دی مشوره والاوو دده دطرفه دده منکوحه ښځی ته طلاق ورکی خوده ته اودده ښځی ته ددی وثیقي او طلاق هیڅ خبر نسته، مقصد داچي ټوله معامله فرضي او مصنوعي کړه وړه اودهوکه ده، په دي صورت کی به دده پرښځي طلاق واقع وی اوکه نه؟ اوکم اولاد چي ددی قصی څخه وروسته سوی دی دهغه څه حکم دی؟

جواب: په فرضی طور سره دچا دطرفه طلاقنامه لیکل اوبی له دی اطلاع څخه چی په دی کاغذ کی طلاق لیکل سوی دی دخاوند دګوتی په لګولو سره طلاق نه کیږی دارنګه پر سپین ساده کاغذ دخاوند څخه ګوته لګول په یوچل اوبیا په دې کاغذ کی په طلاق

---

(۱) ردالمحتار کتاب الطلاق مطلب فی طلاق المدهوش ج۲ ص ۵۸۷، ط. س. ج۳ ص۲۴۴. ظفیر

(۲) استکتب من اخر کتابا لطلاقها وقراءة علی الزوج فاخذه الزوج وختمه وعنونه الخ وقع ان اقر الزوج انه کتابه (رد المحتار کتاب الطلاق ج۲ ص۵۸۹، ط. س. ج۳ ص ۲۴۷). ظفیر

ليکلو سره دخاوند دطرفه څخه طلاق نه واقع کيږي (١) کما في حديث ابن ماجه الطلاق لمن اخذ الساق (٢). اوپه شامي کي دي: وکذا کل کاتب لم يکتبه بخطه ولم يمله بنفسه لا يقع الطلاق ما لم يقر انه کتابه الخ (٣). نوپه دي صورت کي دخاوند دطرفه طلاق واقع نه سو او اولاد ثابت النسب او ولد الحلال دي.

دبيري دوجه څخه يي په عدالت کي انکار دنکاح وکی نوپه دي سره طلاق واقع نه سو:

سوال: (۱۲۴) دکونډي هندي نکاح دزيد سره دشاهدانو اودوکيل په مخ کي وسوه خوپه مجلس دنکاح کي صرف دغه څوکسان وه چي ذکرسوه دامجلس دنکاح عام نه وو ځکه چي دهندي دپخواني خاوند بکر جائيداد زرعي وو اودا ټول دهندي په نوم ليکل سوي وو داپټول صرف دمحرومي دوارثانو دمقدمي دپاره سوي وو چي کله دوارثانو دجانبه په عدالت کي مقدمه دائره سوه شاهدانو دهندي دزيد سره دنکاح صحيح کيدو بيان وکی، دزيد دنطفي څخه او دبطن دهندي څخه يوه انجلي هم پيدا سويده چي موجوده ده خوناکح په وجه ددي بيري چي په رجسټر کي اندراج نسته نوجرم به راباندي عائد سي او منکوحه په وجه دزائل کيدو دملکيت دخپل عقد دنکاح دصحيح کيدو څخه انکار په مخکي دعدالت وکی اووي ويل چي زموږ عقد نه دي سوی آيا دا انکار به معتبر وي او که نه؟ يعني نکاح به جائز وي اوکه نه؟

جواب: په درمختار کي دي: وسئل ألك امراة فقال لا، لا تطلق اتفاقا وان نوى لان اليمين والسوال قرينتا ارادة النفي فيهما الخ وفي ردالمحتار قوله: لا تطلق اتفاقا وان نوى ومثله قوله لم اتزوجك اولم يكن بيننا نكاح او لا حاجة لي فيك بدائع الى ان قال والاصل ان نفي النكاح اصلا لا يكون طلاقًا بل يكون جحوداً الخ (٤). نومعلومه سوه چي په مسئوله صورت کي نکاح کيدل خوشرعا ثابت اومحقق دي نوانکار ددي څخه کذب او جحود دي طلاق نه دي، ددي وجه په مسئوله صورت کي نکاح په مينځ دزيد او دهندي کي قائمه ده اوطلاق واقع نه دي. فقط

---

(١) ولو استكتب من آخر كتابا لطلاقها وقراءة على الزوج فاخذه الزوج وختمه وعنونه وبعث به إليها فاتاها وقع ان اقر الزوج انه كتابه ولم يقم بينة لكنه وصف الأمر على وجهه لا تطلق قضاء ولا ديانة وكذا كل كتاب لم يكتبه بخطه ولم يمله بنفسه لا يقع الطلاق ما لم يقر أنه كتابه اهـ (ردالمحتار كتاب الطلاق مطلب في الطلاق بالكتابة ج۲ ص۵۸۷، ط. س. ج۳ ص ۲۴۷ – ۲۴۲). ظفير

(٢) وگوره ابن ماجه ابو اب الطلاق ص۱۵۱، الدرالمختار على هامش ردالمحتار كتاب الطلاق ج۲ ص۵۸۵، ط. س. ج۳ ص۲۴۲). ظفير

(٣) ردالمحتار كتاب الطلاق ج۲ ص۵۸۷، ط. س. ج۳ ص۲۴۷. ظفير

(٤) الدرالمختار على هامش ردالمحتار قبيل باب طلاق المريض ج۲ ص ۲۲۳. ط. س. ج۳ ص ۲۸۳. ظفير

عمر يې پنځلس کاله دي خوپر کوروالي قادرنه دي نودده طلاق به واقع وي اوکه نه؟ سوال:

(۱۲۵) دبکر عمر پنځلس کاله دي خو دښځي سره پرکوروالي قادر نه دي دده طلاق به واقع کيږي اوکه پلار يې ورکړي؟ دوهمه نکاح دښځي بايد څنګه وسي؟

جواب: که دبکر عمر پنځلس کاله پوره سوي وي نودي شرعا بالغ دي او دده طلاق به واقع وي اودپلار طلاق نه واقع کيږي ([1]) دده څخه دي طلاق واخيستل سي بي دطلاقو څخه دجلا کيدو څه صورت نسته (دپنځلسو کالو په عمر پوره کيدو باندي هلك او انجلي شرعا بالغ ګڼل کيږي که دده پرکوروالي قدرت وي اوکه نه، اوکه ددولس کالو څخه وروسته دده احتلام يا انزال وسو که دپنځلس کالو څخه کم هم وي نوهم دي شرعا بالغ ګرځيږي ([2]). والله اعلم. ظفير)

دنابالغ طلاق په يو صورت کي جائز دي اوکه نه؟ او دضرورت څخه څه مراد دي؟ سوال:

(۱۲۶) په باره دطلاقو دصغير کي اهل علم مختلف سويدي، اول فريق وايي چي ښځه مشره ده او ببره دزنا ده او دښځي دمور او پلار دپښيمانتيا او دفساد دزماني دبيري دوجه ضرورت دي نو دصبي طلاق واقع دي اوضرورت دحاکم مجاز اودقاضي شرعي په فسخ کي نسته په خپله صغير مالك دطلاق دي دده څخه دي طلاق واخيستل سي اوپه بل ځاي کي يې نکاح جائز ده، دوهم فريق وايي چي ضرورت هغه دي چي په کتابونو کي باندي تصريح ده اودا مذکوره ضرورت په يوکتاب کي مصرح نه دي هرسړي دضرورتونو دايجادولو اجازه نه لري اوکه بالفرض ضرورت تسليم هم سي نوقضاء دقاضي شرط ده اوهر څوك مجازنه دي، اول فريق وايي چي په دي مذکوره ضرورتونو سره ترك دمذهب جائز دي اوپه بل مذهب عمل جائز دي اودوهم فريق په دي ضرورت کي دترك تقليد څخه منکر دي، په وخت دضرورت کي دصبي طلاق واقع کيږي اوکه نه؟ مراد ددي ضرورت څخه کم ضرورت دي؟ هرسړي دضرورت جوړولو مجازدي اوکه هغه چي په کتابونو کي يې تصريح سويده؟ ياد سوي ضرورت داول فريق واقعي ضرورت دي اوپه دي باندي طلاق دصبي جائز اوعمل په مذهب دبل جائزدي اوکه نه؟ قضاء دقاضي په دي مسئله کي شرط دي اوکه هرچاته اختياردي چي دصبي څخه طلاق واخلي اوبل ته يې په نکاح

([1]) يقع طلاق كل زوج بالغ عاقل ولو عبدا او مكرها الخ ولا يقع طلاق المولى امرأة عبده لحديث ابن ماجه: الطلاق لمن اخذ الساق (درمختار) كناية عن ملك المتعة (وګوره ردالمحتار كتاب الطلاق ج۲ ص۵۷۹ – ۵۸۰، ط. س. ج۳ ص۲۳۵). ظفير

([2]) بلوغ الغلام بالاحتلام والاحبال والانزال الخ فان لم يوجد فيهما شيء وحتى يتم لكل منهما خمس عشرة سنة به يفتى وادنى مدته اثنا عشرة سنة ولها تسع سنين (درمختار) قوله فان لم يوجد فيهما اى فى الغلام والجارية شيء مما ذكر (ردالمحتار كتاب الحجر فصل بلوغ الغلام ج۵ ص۱۳۲، ط. س. ج۳ ص۱۵۳). ظفير

کړي؟ زموږ غوندي مقلدينو لره ترك دمذهب په مخترع ضرورت باندي جائزدي اوكه هلته چي تصريح په كتابونو دفقه كي پيدا سي؟ په وخت دسخت ضرورت كي په دي معامله كي ترك دخپل مذهب اوعمل په بل مذهب جائزدی لكه چي په زوجه دمفقود او معتدة الطهر كي مصرح تحرير دمولوی محمد بخش په امتناع دطلاق دصغير كي دي او كه څنګه؟

جواب: طلاق دصبي واقع نه دی (۱) دی محل دطلاق دواقع كولو نه دی لحديث: رفع القلم عن ثلثة (۲) الحديث. ولما صرح به الفقهاء قاطبة (۳)، او تفريق دقاضي په مخصوصو مواقعو كي دبعضو په قول كي طلاق كيدلي سي خو دصبي طلاق اچول په دي كي كار نه لري بلكي تفريق دقاضي ته حكم دطلاق وركول سويدی نوتفريق دقاضي ته په دغه موقع كي هم ضرورت دی بلكي اصل هم دغه دی اوهم دغه تفريق دقاضي ته نوم دطلاقو وركول سويدی نه داچي طلاق دصبي بي له تفريق دقاضي څخه به واقع سي اومواضع دتفريق دقاضي هم هغه دی چي فقهاؤ ددی تصريح كړيده (۴) نه هغه چي زه يي په خلاف دمواقع مذكوره حكم دجواز دطلاقو دصبي وكړم او ضرورت چي كم فريق اول خيال كړيدی په دی كي داخل نه دی اوتفريق دقاضي ضروری دی ځكه چي هرسړی لره اختيار نسته چي په موقع دضرورت دصبي څخه طلاق واخلي او دوهمه نكاح وكړي او ترك دمذهب موږ مقلدينو لره ماسوا دهغه ځايونو څخه چي فقهاؤ په بل مذهب عمل كول جائز ګرځولي دی نه دی جائز. نوتحرير دمولوی محمد بخش صاحب په باره دعدم وقوع دطلاق دصبي كي صحيح اومعتبر دی اوتحرير دمجوزينو دطلاق دصبي صحيح او معتبر نه دی. فقط

<u>دنابالغ طلاق نه واقع كيږي او نه هم دده دمور او دپلار</u>: سوال: (۱۲۷) ديو هلك نكاح په حالت دنابالغتيا وسوه او والدينو ايجاب اوقبول وكي اوس داهلك طلاق وركولي سي اوكه نه هلك طلاق نه دی وركړی نو انجلي دده سره رخصت كول په كاردی اوكه نه؟

جواب: په مسئوله صورت كي نكاح وسوه دنابالغ دطرفه دده والدين ايجاب وقبول كولي سي اونكاح كيږي خودنابالغ طلاق نه واقع كيږي اونه دده مور اوپلارطلاق وركولي سي

---

(۱) ولا يقع طلاق الصبي والمجنون والنائم (هدايه كتاب الطلاق ج۲ ص۳۳۷، شامي ج۳ ص۲۴۲). ظفير

(۲) مشكوٰة باب الخلع والطلاق ص ۲۸۴. ظفير

(۳) ولا يقع طلاق المولى على امراة عبده الخ وطلاق المجنون والصبي ولو مراهقا او اجازه بعد البلوغ (الدر المختار على هامش ردالمحتار كتاب الطلاق ج۲ ص۵۸۵ - ۵۸۲، ط. س. ج۳ ص۲۴۲). ظفير

(۴) الا اذا كان مجبوبا وفرق بينهما او اسلمت زوجته فعرض الاسلام عليه مميزا فابى وقع الطلاق (ردالمحتار كتاب الطلاق ج۲ ص۵۸۲). ظفير

([1]). نودا انجلی ددی دخاوند کورته رخصتول په کار دی. فقط

نابالغ یا دده پلار طلاق ورکولی سی اوکه نه؟ **سوال**: (۱۲۸) زما دنابالغه زوی چی دځلورو کالو وو نکاح دیوی انجلی دپنځلسو کالو سره سویده یوکال وسو اوس دانجلی عمر شپاړس کاله دی اوهلك دپنځو کالو، دانجلی ګذاره مشکله ده اوس ماته دخپل عزت بیره ده زه غواړم چی دیته طلاق ورکړم په داسی حالت کی هلك یازه دیته طلاق ورکولی سو اوکه نه؟

جواب: دپلار طلاق دزوی ښځی ته نه کیږی او دنابالغ طلاق هم نه واقع کیږی نو ترڅو چی هلك بالغ سوی نه وی بل څه صورت دجدایی نه سی کیدی، هکذا فی الدرالمختار ([2]) وغیره. فقط

دنابالغی ښځی ته دطلاق ورکولو څه صورت دی؟ **سوال**: (۱۲۹) یوسړی دخپل نابالغ زوی نکاح دډیر وخت راهیسی دیوی نابالغی سره کړی وه اوس ددوو کالو راهیسی ښځه بالغه ده اوهلك نابالغ، اوس دیوې وجه څخه پلار داغواړی چی نکاح فسخ سی نو داسی یو صورت وښیاست چی په حیله سره نکاح فسخ سی ددی دپاره چی دانجلی نکاح بل ځای وسی، او حیله کول شرعا جائزده اوکه نه؟ اوفسخ دنکاح ځکه غواړی چی انجلی په حرامو کی اخته نه سی؟

جواب: اقول وبالله التوفيق جاء في الحديث الطلاق لمن اخذ الساق الخ كتاب ([3]) الطلاق وفي درالمختار من كتاب الماذون وكذا لايقع من غيره كابيه ووصيه والقاضى للضرورة وسيجئ هذه العبارات بتمامها وفي الدرالمختار والصبى ولو مراهقا اى لايقع الطلاق الخ ([4]) درمختار كتاب الطلاق وفي كتاب المأذون وتصرف الصبى والمعتوه ان كان نافعا محضا كالاسلام والاتهاب صح بلا اذن الخ وان ضاراً كالطلاق والعتاق الخ لا وان اذن به وليهما الخ (درمختار) قوله: وان اذن به وليهما لاشتراط الأهلية الكاملة وكذا لو أجازه بعد بلوغه إلا إذا كانت بلفظ يصلح لابتداء العقد كأوقعت الطلاق أو العتاق وكذا لا تصح من غيره كأبيه ووصيه والقاضي للضرورة قلت ومواضع الضرورة مستثناة عن قواعد الشرعية كما لو كان مجبوبا أو ارتد أو أسلمت امرأته وأبى الإسلام أو كاتب وليه حظه من عبد مشترك واستوفى

([1]) لا يقع طلاق المولى على امراته عبده لحديث ابن ماجه الطلاق لمن اخذ بالساق الخ والمجنون والصبى ولو مراهقا (الدرالمختار على هامش ردالمحتار كتاب الطلاق ج۲ ص۵۸۵ - ۵۸۶، ط. س. ج۳ ص۲۴۲). ظفیر

([2]) لايقع طلاق المولى على امراة عبده لحديث ابن ماجه الطلاق لمن اخذ بالساق الخ والمجنون والصبى ولو مراهقا (ايضا كتاب الطلاق ج۲ ص۵۸۵ - ۵۸۶، ط. س. ج۳ ص۲۴۲). ظفیر

([3]) الدرالمختار على هامش ردالمحتار كتاب الطلاق ج۲ ص۵۸۵، ط. س. ج۳ ص۲۴۲). ظفیر

([4]) ايضا ج۲ ص۵۸۶، ط. س. ج۳ ص۲۴۳. ظفیر

بدلها فقد صار الصبي مطلقا في قول الخ [1]. په دی قول کي چی صبی ته په دی ځایونو منصوصه کی مطلق ویل سویدی ددی مطلب دادی چی په دی خاصو ځایونو کی پرده باندی اطلاق دمطلق کیږی نه داچی په غیر ددی خاصو مواقعوکي دده طلاق واقع کیږی نو کمه حیله ده چی په مسئوله صورت کی په کار راسی او طلاق دصبی واقع سي، دا محال دی اوخیال دی.

دنابالغ دطلاق چی کمه تذکره داصول فقه په کتابونو کی ده نو ددی مراد څه دی؟ سوال:

(۱۳۰) زید دخپل زوی عمر نکاح چی عمر یی تقریبًا شپږ کاله دی دبکر ددولس کلنی لور سره کړیده مذکوره زید دوه کاله وروسته مړسو دغه وخت دناکح عمر اته کاله دی او دانجلی عمر څوارلس کاله دی دزید وارث په دی خیال سره چی هلك نابالغ دی اوانجلی بالغه ده که په دی حالت کی واده وسی نو جوړښت به یی رانه سی بلکی دناکح تاوان دی، له دې امله غواړي چې دمنکوحه نکاح فسخ سي او ددی په بدل کی بله انجلی چی دهلك دعمر برابره وي دهلك نابالغ سره په نکاح سی په دی صورت کی طلاق دنابالغ جائز کیدی سی اوکه نه؟ په کتاب نور الانوار مطبع یوسفی ص۲۸۵ کی داروایت دی: وان طلاق الصبی واقع الخ، اوپه کتاب التلویح کی دی: قال شمس الائمة الحق انه لا ضرورة فی اثبات الخ اوپه کتاب النامی شرح حسامی مطبع مجتبایی ډهلی جلد ثانی ص ۸۷ کی درج دی: ان الطلاق والعتاق الخ. فقط

جواب: دصبی طلاق نه واقع کیږی اونه دده ولی طلاق ورکولی سی په درمختار کی دی: لا یقع طلاق المولی (الی ان قال) والصبی، قال الشامی قوله والصبی الا اذا کان مجبوبا الخ شامی ج۲ ص۵۸۲، نومعلومه سوه چی طلاق دصبی نه واقع کیږی اودنور الانوار وغیره دعبارتونو مطلب هم دغه دی چی کم شامی بیان کړیدی بیا دایو اصولی بحث دی چی اباء عن الاسلام وغیره طلاق کیږی اوپه کارده اوکه نه؟ نودمذکوره کتابونو مطلب دادی چی په دی خاص مواقع کی په ضرورت سره دطلاقو حکم کیږی اودا حکم بل ځای نه سی جاری کیدی دارنګه داکتاب داصول فقه دی دفتاوٰی کتابونه نه دي چی ددوی څخه فتوٰی ورکول سی. داصول فقه هغه بحث دادی: وفی شرح التحریر قال صاحب الکشف وغيره المراد من عدم شرعية الطلاق أو العتاق في حق الصغير عدمها عند عدم الحاجة فأما عند تحققها فمشروع قال شمس الأئمة السرخسي زعم بعض مشايخنا أن هذا الحكم غير مشروع أصلا في حق الصبي حتى أن امرأته لا تكون محلا للطلاق وهذا وهم عندي فإن الطلاق يملک بملک النکاح إذ لا

[1] ردالمحتار کتاب الماذون مبحث فی تصرف الصبی ج۵ ص ۱۵۰. ظفیر

ضرر في إثبات أصل الملک بل الضرر في الإيقاع حتى إذا تحققت الحاجة إلى صحة إيقاع الطلاق من جهته لدفع الضرر كان صحيحا فإذا أسلمت زوجته وأبى فرق بينهما وكان طلاقا عند أبي حنيفة ومحمد وإذا ارتد والعياذ بالله تعالى وقعت البينونة وكان طلاقا في قول محمد وإذا وجدته مجبوبا فخاصمته فرق بينهما الخ (ردالمحتار باب الكافر ج۲ ص۵۳۶، ظفير).

دمراهق طلاق واقع کيږي اوکه نه؟ سوال: (۱۳۱) ددين اودشرع عالمان اومفتيان څه وايي چې ديوسړي دنابالغه زوی نکاح دنابالغی انجلی سره وسوه او دغه زوی دی انجلی ته دری طلاق ورکړل برابره خبره ده چې دا زوی يې نابالغ عاقل دی اوکه نه؟ پرتقدير اول مراهق دی اوکه غير مراهق دی، موافق دشريعت اودملت بيضاء وقوع دطلاق کيږی اوکه نه؟ نو دانجلی مور اوپلار دا انجلی بل سړی ته په نکاح کولی سی اوکه نه؟ اودا دوهمه نکاح به منعقده وی اوکه نه؟ اوپر دوهم تقدير به تفريق په مينځ ددوی کی ضروری وی اوکه نه؟ اوکه ضروری وی نوحکم داولاد ددوی به څه وی حلال به وی اوکه نه؟

جواب: طلاق دصبی نابالغ واقع نه دی که څه هم مراهق اوعاقل وی طلاق يی نه کيږی او نکاح ددی انجلی دبل سړی سره باطله ده، اونابالغ مرفوع القلم دی په نص دحديث پاك نو پرصحيح مذهب دده طلاق صحيح نه دی او ددی خلاف معتبر نه دی او دوهمه نکاح باطله اوناجائز ده اوتفريق ددوی په مينځ کی لازم دی اواولاد ولد الحرام دی. والله اعلم (فی العالمکيريه ولايقع طلاق الصبی وان کان يعقل الخ جلد ۱ ص ۳۳۰ مصری). فقط

دنابالغ طلاق واقع کيږي اوکه نه؟ سوال: (۱۳۲) که نابالغ خپلی منکوحی ته طلاق ورکړی نوواقع به وی اوکه نه؟ مولوی سراج احمد بهاولپوری فتوٰی دوقوع ورکوی.

جواب: دنابالغ طلاق نه واقع کيږی. کما فی الدرالمختار لا يقع طلاق المولٰی علی امرأة عبده الخ والمجنون والصبي ولو مراهقا او اجازه بعد البلوغ الخ لانه حين وقوعه وقع باطلاً والباطل لا يجاز الخ، شامی ج۲ ص۴۲۲. [1] نومعلومه سوه چی فتوٰی دوقوع دطلاق دصبی صحيح نه ده غلطه ده عند الحنفية.

دنابالغ خپلی ښځی ته دطلاق ورکولو څخه وروسته ددی دخور سره نکاح کولی سی اوکه نه؟

سوال: (۱۳۳) يو نابالغه هلك دخپل پلار په ذريعه خپلی ښځی ته طلاق ورکی دغه وخت يو مولوی ددی سړی نکاح ددی ښځی دخور سره وکړه نو دانکاح او طلاق صحيح دی او که نه؟

جواب: دنابالغ طلاق نه واقع کيږی [2] دنابالغ پلار يابل يو ولی دنابالغی ښځی ته طلاق

---

[1] ردالمحتار کتاب الطلاق ج۲ ص ۵۸۵ – ۵۸۲، ط. س. ج۳ ص ۲۴۲. ظفير　　=

نه سي ورکولی لحدیث ابن ماجه: الطلاق لمن اخذ الساق، کذا فی الدر المختار (۱)، نو دنابالغ نکاح دښځی دخور سره په موجوده حالت کی صحیح نه بلکی باطله ده. قال الله تعالٰی وان تجمعوا بین الاختین. الآیة (۲).

دضرورت په وخت کی دماشوم طلاق جائز دی اوکه نه؟ **سوال:** (۱۳۴) دضرورت په وخت کي دصبی طلاق جائز دی اوکه نه؟

جواب: دماشوم طلاق نه واقع کیږی کما فی الدر المختار: والصبی ولو مراهقا او اجازه بعد البلوغ (۳)، او داچی په بعضو مواقعو کی دصبی ښځه دده څخه جلا کوی اوقاضی تفریق کوی لکه چی دمجبوب ښځه دده څخه جلا کیږی یا دمرتد ښځه دده څخه جلا کیږی نو داپه حقیقت کی دصبی طلاق نه دی که څه هم دیته مجازاً طلاق دصبی ویل کیږی نوپر دی موقع نور مواقع نه سی قیاس کیدی ځکه چی داتفریق په اعتبار دتصریح دفقهاؤ په همدې موقع سره خاص دی (۴). کما لوکان مجبوبا او ارتد او اسلمت امرأته وابی الاسلام الخ، شامی (۵).

دنابالغ ښځه چی په زناکی اخته سی نوبیابه هم دده طلاق واقع نه وی: **سوال:** (۱۳۵) دکریم بخش نابالغ ددری کالو نکاح دزینب بالغی سره وسوه دا ښځه بالغه وه دی وویل ددی نابالغ څخه مالره طلاق واخلی او دیو بالغ سړی سره می نکاح وکړی صبر می نه کیږی او زنا به راڅخه وسی چی طلاق دصبی نافذ نه وو نو دامعامله ونه سوه نو زینب زنا شروع کړه دزنا څخه یو هلك هم پیدا سو چی مړسو یوه انجلی هم چی دڅلورو کالو موجوده ده مذکوره ښځه اوس هم غواړی چی طلاق راکړی چی زه دبل چا سره نکاح وکړم هلك کریم بخش نابالغ دغیرت دوجه په طلاق ورکولو هروخت تیار دی په داسی صورت کی طلاق دنابالغ جائز کیدی سی اوکه به څنګه وی؟ په کتابونو دفقه کی دی طلاق دصبی عند الضرورت جائزدی ددی ضرورت څخه څه مراد دی چی دښځی بالغی دزنا کیدو سخته بیره وی او لا تراوسه سوی نه وی دا دخپل ناکح نابالغ څخه طلاق اخیستی سی؟ او ددی نابالغ طلاق جائز کیدی سی اوکه نه؟

(۲) ولا یقع طلاق الصبی (هدایه کتاب الطلاق ج۲ ص ۳۳۸). ظفیر

(۱) الدرالمختار علی هامش ردالمحتار کتاب الطلاق ج۲ ص۵۸۵، ط. س. ج۳ ص ۲۴۲. ظفیر

(۲) سورة النساء رکوع ۴. ظفیر

(۳) الدرالمختار علی هامش ردالمحتار کتاب الطلاق ج۲ ص۵۸۶، ط. س. ج۳ ص ۲۴۳. ظفیر

(۴) الدرالمختار علی هامش ردالمحتار کتاب الطلاق ج۲ ص۵۸۶، ط. س. ج۳ ص ۲۴۳. ظفیر

(۵) ووقوع فی المسائل الاربع ودفع الضرر لا ینافی عدم اهلیة للطلاق فی غیرها کمامر تحقیقه فی نکاح الکافر (ردالمحتار کتاب الطلاق ج۲ ص۵۸۶، ط. س. ج۳ ص ۲۴۳). ظفیر

جواب: طلاق دنابالغ بالکل صحیح نه دی او دا په وجه دعنین کیدو یا دلیونی کیدو یا دمقطوع الذکر کیدو دخاوند، یادښځی دنابالغ په اسلام راوړو، یاپه انکارکولو دخاوند داسلامه څخه، نوقاضی به په سبب دضرورت سره تفریق کوی اودا په حقیقت ایقاع دطلاق دجانبه دنابالغه څخه نه دی، او ماسوا دهغه مواقعو څخه چی په هغه کی فقهاوو تصریح کړیده اوپه نورو ځایونو کی فقهاوو دعدم وقوع دطلاق دصبی تصریح کوی چی ماسوا دمسائلو اربعه وو څخه په صبی کی اهلیت دصبی دطلاقونسته. قال فی الشامی: ([1]) ووقوع فی المسائل الاربع للحاجة ودفع الضرر لاینافی عدم اهلیة للطلاق فی غیرها کما مر تحقیقه فی باب نکاح الکافر الخ ([2]). وایضا فی الشامی فی کتاب الماذون ومواضع الضرورة مستثناة عن قواعد الشرع کما لو کان مجبوبًا او ارتد او اسلمت امرأته وابی الاسلام او کاتب ولیه حظه من عبد مشترک واستوفی بدلها فقد صار الصبی مطلقًا فی قول کما صار معتقًا الخ ([3]). فقط

دګونګی خاوند ښځه طلاق څنګه حاصل کړی؟ سوال: (۱۳۶) یوسړی دخپلی لور نکاح په زمانه دطفولیت کی دیوه هلك سره کړی وه دغه وخت په هلك کی هیڅ عیب نه وو بیا وروسته دبلوغ څخه په هلك کی څو عیبونه پیدا سوه یو داچی هلك نامرد دی دوهم ګونګی دی ددی وجه څخه دانجلی پلار غواړی چی ددی دوهمه نکاح وکړم خو هلك دګونګي کیدو په وجه طلاق نه سی ورکولی نو ددی دوهمه نکاح صحیح ده اوکه نه؟

جواب: دګونګی طلاق په اشارې سره کیږی اوپه لیکلو هم کیږی که دی لیك کولی سی نو دده څخه دی طلاق ولیکل سی کنې نو په اشاره سره دی طلاق واچول سی بغیر دطلاقه ددی انجلی دوهمه نکاح صحیح نه ده. ([4]) فقط

په دی صورت کی طلاق وسو او که نه ؟ سوال : (۱۳۷) هندی دخاوند دمرګ څخه وروسته

([1]) ایضا کتاب الطلاق ج۲ ص۵۸۶، ط. س. ج۳ ص۱۵۰. ظفیر

([2]) ردالمحتار کتاب الطلاق ج۲ ص۵۸۶، دکافر په نکاح کي دا بحث په دې ډول دی: وهو من اغرب المسائل حیث یقع الطلاق من صغیر ومجنون، زیلعي نمبر ج۲، وفیه نظر اذ الطلاق من القاضي وهو علیهما لا منهما فلیسا باهل للایقاع بل للوقوع کما لو ورث قریبه (درمختار) قوله فلیسا باهل للایقاع ای ایقاع الطلاق منهما بل هما اهل للوقوع ای حکم الشرع بوقوعه علیهما عند وجود موجبه (ردالمحتار کتاب النکاح الکافر ج۲ ص۵۳۶، ط. س. ج۳ ص۱۹۰). ظفیر

([3]) ردالمحتار کتاب الماذون ج۵ ص۱۵۰، ط. س. ج۲ ص۱۵۰. ظفیر

([4]) او اخرس ولو طارئا باشارته المعهودة فانها تکون کعبارة الناطق استحسانا (درمختار) یقع طلاق الاخرس بالاشارة یرید به الذی ولد وهو اخرس او طرء علیه ذلك ودام حتی صارت اشارته مفهومة وان لم تعتبر ففی کافی الحاکم الشهید مانصه فان کان کالاخرس لایکتب وکان له اشارة تعرف فی طلاقه ونکاحه وشرائه وبیعه فهو جائز الخ فقد رتب جواز الاشارة علی عجزه عن الکتابة فیفید انه ان کان یحسن الکتابة لا تجوز اشارته (رد المحتار کتاب الطلاق ج۲ ص۵۸۴. ط. س. ج۳ ص۲۴۱). ظفیر

دوهمه نكاح دخالد سره وكړه زميندار دنكاح څخه لس كاله وروسته بناء پردې قانون چې كله كونډه ښځه نكاح وكړي نو زميندار ته اختيار دی چې ددې داول ميړه دمځكې څخه بې دخلې وكړي، دهندې دبې دخلې استغاثه په عدالت كې وسوه خالد دابيان وركی چې زما نكاح دهندې سره نه ده سوې او هندې هم همدا ډول جواب وركی نو ددوې نكاح باقي ده او كه نه؟

جواب: دخالد په دې بيان سره دده پرښځه طلاق نه واقع كيږي: قوله لاتطلق اتفاقا ومثله قوله لم اتزوجك الخ والاصل ان نفى النكاح اصلا لا يكون طلاق بل يكون جحوداً الخ ج۲ ص۴۵۳ شامى. ([1])

يو ځل نكاح وسوه بيا پلار بيرته واخيسته نو آيا په دې سره طلاق واقع سو؟ **سوال**: (۱۳۸) يوه سړي خپله لور دبل دزوی په نكاح كې وركړه او دده لور يې خپل زوی ته په نكاح كړه، دنابالغي انجلۍ نكاح دنابالغ هلك سره لومړی وسوه اوبيا دبلې انجلۍ او هلك نكاح وسوه دنكاح دكيدو څخه وروسته معلومه سوه چې انجلۍ بالكل ليونۍ ده ددې وجهې څخه هغه دا ليونۍ انجلۍ رد كړه اوخپله نابالغه لور يې بيرته خپله كړه اوس دا بالغه انجلۍ نكاح كول غواړي آيا ديته طلاق اخيستل ضروري دي او كه ددې دپلار بيرته اخيستل ددې دپاره طلاق دی؟

جواب: ددواړو انجونو نكاح وسوه په دوی كې يوه هم بيرته نه سې رديدای او ددواړو نكاح قائمه ده ترڅو چې ميړه بالغ نه سي او طلاق ورنه كړي تر هغه وخته پورې به يوه انجلۍ هم دخپل ميړه دنكاح څخه بهر نه وي او بل ځای به يې نكاح صحيح نه وي او دپلار طلاق نه واقع كيږي. ([2])

دليوني دطرفه دده وارث طلاق نه سي وركولای: **سوال**: (۱۳۹) دليوني طلاق دده دوراثانو يعنى دورور يا دپلار دطرفه كيدای سي او كه نه؟ اوپه دې كې عده سته او كه نه؟

جواب: دليوني طلاق نه واقع كيږي اودده ولې مثلا ورور اونورهم طلاق نه سي وركولای لقوله عليه السلام الطلاق لمن اخذ الساق ([3]) خو امام محمد ﷺ فرمايي چې كه ښځه

([1]) رد المحتار قبيل باب الصريح ج۲ ص۲۲۳، ط. س. ج۳ ص۲۷۳. ظفير

([2]) چې كله نكاح صحيح سوه نو دجدايي صورت هم دادی چې ميړه بالغ سي او طلاق وركړي ځكه چې دنابالغ طلاق نه واقع كيږي او نه دده دپلار طلاق دده پرښځه واقع كيږي: ولا يقع طلاق الولى على امرأة عبده الخ والمجنون والصبى وان كان مراهقا واجازه بعد البلوغ (الدرالمختار على هامش ردالمحتار كتاب الطلاق ج۲ ص۵۸۵ - ۵۸۶، ط. س. ج۳ ص۲۴۳). ظفير

([3]) ولا يقع طلاق المولى على امرأة عبده الخ والمجنون والصبى (ردالمحتار كتاب الطلاق ج۲ ص۵۸۵ ابن ماجه ص۱۵۰ ط. س. ج۳ ص۲۴۲). ظفير

تفریق غواړي نو قاضی به لیوني ته یوکال په غرض دعلاج مهلت ورکړي ددې ځخه وروسته که دی ښه نه سو نو په دوی کي به تفریق راوستل سي، او وروسته دتفریق ځخه به ښځه عدت تیره کړي او بیا دوهمه نکاح کولای سي. (۱)

دښځي دخنثي توب په ظاهرولو سره طلاق واقع کیري اوکه نه؟ **سوال**: (۱۴۰) زید ددریو ځلورو سړیانو په مخ کي دخپلي ښځي خنثي توب ظاهر کی چي زما ښځه زما دکار نه ده ایا دزید په دي خبره دده پرښځه طلاق واقع سو اوکه نه؟ او دده ښځه شرعا دمهر اخیستو حقداره ده اوکه نه؟

جواب: په دي خبره دزید ښځه طلاقه نه سوه (۲) او دمهر موجل مطالبه دطلاق یا مرګ ځخه مخکي نه سي کیدای. (۳)

ښځه وتښتیده او بل ځاته ولاړه میره یي دهغې دبیرته راوستلو ځخه انکار وکی نوځه حکم دي؟ **سوال**: (۱۴۱) یوه ښځه دخپل میړه دکور ځخه وتښتیده اوبل سړي ته ولاړه چي کله ددي میړه ته وویل سوه چي ته دي ښځه بیرته بوزه نو ده دبیولو ځخه انکار وکی نو آیا لو مړی نکاح فسخ سوه او ددي ښځي دوهمه نکاح جائزه ده اوکه نه؟

جواب: په دي صورت کي نکاح فسخ نه سوه او طلاق واقع نه دی ددي میړه ته دی وویل سي چي: یا دا طلاقه کړه او یا یي دځان سره بوزه او دنفقي خبر یي واخله، او دطلاق پرته دوهمه نکاح کول ښځي ته جائز نه دي. (۴)

مرګوني ناروغ چي په حالت دصحت کی طلاق ورکړي نو واقع کیږي: **سوال**: (۱۴۲) دزید نکاح دهندي سره په داسي حالت کي وسوه چي دواړه نابالغ وه زید دنکاح ځخه وروسته

---

(۱) ولا یتضر احد الزوجین بعیب الاخر ولو فاحشا کجنون وجذام وبرص ورتق وقرن وخالف الائمة الثلاثة بالخمسة لو بالزوج ولو قضی بالرد صح (درمختار) ومحمد فی الثلاثة الاول لو بالزوج کما یفهم من البحر (رد المحتار باب العنین ج۲ ص۸۲۲. ط. س. ج۳ ص۵۰۱). دتفصیل دپاره وګورئ: الحیلة الناجزة للتهانوی او للرحمانی. ظفیر

(۲) کله چي میړه طلاق ورکي نو واقع به وي خو دامسئله ضرور ده چي دخنثی مشکل سره نکاح نه کیږي: وعقد یفید ملك المتعة ای حل استمتاع الرجل من امرأة لم یمنع من نکاحها مانع شرعی فخرج المذکر والخنثی المشکل (درمختار) ای ایراد العقد علیهما لایفید ملك استمتاع الرجل بهما لعدم محلیتهما له الخ لو زوجه ابوه او مولاه لامرأة اورجلا لایحکم بصحته (ردالمحتار کتاب النکاح ج۲ ص۳۵۲. ط. س. ج۳ ص۳). ظفیر

(۳) وهذا لان الغایة معلومة فی نفسها وهو الطلاق او الموت (عالمګیری مصری باب المهر ج۱ ص۳۱۸. ط. ماجدیه ج۱ ص۳۱۷). ظفیر

(۴) ویجب الطلاق لو فات الامساك بالمعروف (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ج۲ ص۵۷۲. ط. س. ج۳ ص۲۲۹) واما نکاح منکوحة الغیر الخ فلم یقل احد بجوازه فلم ینعقد اصلا (ایضا باب المهر ج۲ ص۴۸۲. ط. س. ج۳ ص۱۳۲). ظفیر

تر يوه کاله پوري روغ رمټ وو ددي څخه وروسته ده ته مرگوني يا وژونکي ناروغي وريښه سوه چي دهغي دوره به وخت په وخت راتله اوس دزيد عُمر اووه لس کاله اونه مياشتي دی که زيد خپلي ښځي ته طلاق ورکړي نو واقع به سي او که نه؟

جواب: که دروغتيا په حالت کي زيد طلاق ورکړي نو طلاق صحيح دی اوواقع به وي (۱).

ويې ويل که دي داسي ونه کړل نو ستا سره به تعلق ختم کړم، آيا طلاق واقع سو؟ سوال:

(۱۴۳) حامله هنده دزيد ښځه داسي بيان کوي چي د۱۹۱۷ کال دمارچ په ۲۸ دملازمت ځای ته دروانيدو په وخت کي زما ميړه زيد ماته وويل چي: که په وخت دوضع دحمل کي زما مور ستا سره نه وه نو تعلق به درسره ختم کړم، او زيد ددي الفاظو دويلو څخه منکر دی، يو بل دوهم خط په اول ځل راغلی وو چي دزيد په نامه دهندي مور راوړی وو دهغه اول او اخر يي پري کړی ؤ، دپاڼي په يوه کرښه کي ددي عبارت (که ستا پرذات زما دذات څخه داغ لگيدی) څخه مخکي او وروسته عبارت دخولي په ناړو خراب سوی وو، يوازي (تعلق ختم کړو) پاته وو دهندي مور راوړيدی دی او هغه وايي چي دا زيد په زور سره دخولي په ناړو پاك کړی دی په دي صورت کي دزيد پرښځه طلاق واقع سو او که نه؟

جواب: موافق ددي تحرير چي ورسره پيوست دی دزيد پرښځه طلاق نه واقع کيږي ځکه چي کم بيان دهندي دی دهغه سره سم خو دهغه وجهي طلاق نه واقع کيږي، ځکه چي موافق دقول دهندي زيد دشرطيت په طريقه داسي وويل چي که داسي وسوه نوزه به ستا سره تعلق ختم کړم، نو په دي لفظ سره که شرط موجود هم سي طلاق نه واقع کيږي: لانه بلفظ المستقبل ولا يقع الطلاق بلفظ المستقبل لانه وعد کذا فی کتب الفقه (۲) او دهندي مور چي کم مشتبه ليك وړاندي کړی دی نو په هغه سره هم طلاق نه سي واقع کيدای ځکه چي په هغه کي دانه معلوميږي چي زيد دا لفظ چاته ليکلی دی اوپه دي لفظ سره يي نيت څه دی که بالفرض زيد دا لفظ خپلي ښځي ته هم ليکلی وي خو کله چي دالفظ کنايي دی اوپه کنايي کي چي نيت دطلاق وي طلاق واقع کيږي کني نه واقع کيږي، نو ددي وجهي دا تحرير هم موجب دوقوع دطلاق نه سو: قال فی الدرالمختار علم انه حلف ولم يدر بطلاق او غيره لغا کما لو شك اطلق ام لا الخ. (۳)

---

(۱) ويقع طلاق کل زوج عاقل بالغ الخ ولو مريضا (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار کتاب الطلاق ج۲ ص۵۷۹، ط. س. ج۳ ص۲۳۵). ظفير

(۲) انا اطلق نفسي لم يقع لانه وعد (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب تفويض الطلاق ج۲ ص۷۵۷. ط. س. ج۳ ص۳۱۹). ظفير

(۳) ايضا کتاب الطلاق باب الصريح ج۲ ص۲۲۳، ط. س. ج۳ ص۲۸۳. ظفير

دسختې غصې په حالت کې يې طلاق ورکې نوواقع سو اوکه نه؟ **سوال**: (۱۴۴). زيد په قسم ددې خبرې تصديق کوي چې دبکر سره عمر چې خسر دبکر دی ډېره جاهلانه مناقشه وکړه چې يومعزز سړی دی يوڅه يې ورته وويل مخاطب يې کی اوډېر الفاظ يې ورته وويل چې دهغه په سبب بکر داسې غصه سو چې بدن يې په رپيدو سو اودده په باره کې مشهوره ده چې سخت غصه ناك او مغلوب المزاج سړی دی بکر عمرته ټکې په ټکې جواب ورکول شروع کړه زيد حيران سو چې داڅه جهالت دی په بکر باندی څه وسول دومره عزت مندسړی دی اوپر عامه لار داسې جهالت کوي په دی بحث کې عمر خسر دبکر شپږ اووه واره يويو نقص اوعيب ده ته بيان کی اوطلاق يې ځيني وغوښتې ده عمر ته کتل داسې معلوميده چې حيران بې هوښه ولاړدی په همداسې بې هوښې کې يې طلقت، طلقت، طلقت وويل دزيد سره کتونکی څوسړی نور هم وه ددې څخه وروسته دبکر غصه ختمه سوه اودسړی په شان خبرې يې شروع کړی کنې نو زيد ته بالکل يقين وو چې دبکر داغصه او دليونتوب حرکت به لاس اچولو ته ورسيږی، آيا دبکر پر ښځې طلاق واقع سواوکه نه؟ بينوا وتوجروا !

پردی سوال باندې مولوی محمد شبلی مدرس ندوه داجواب ليکلی دی چې په مسئوله صورت کې طلاق نه دی سوی ځکه چې دمدهوش طلاق نه واقع کيږی اودشامی جلد۲ ص۴۲۲: وسئل فيمن طلق زوجته ثلاثا فی مجلس القاضي وهو مدهوش فاجاب بان الدهش من اقسام الجنون فلايقع الخ [1] پيش کړيدی، پردی باندې بيا حضرت مفتی صاحب دا تحرير وکی:

جواب: اقول وبالله التوفيق داښکاره ده چې طلاق اکثره دغصې په حالت کې ورکول کيږی اوهم غصه سبب عموما دطلاق ورکولو وی لکه چې په کتابونو کې يې حالت دغضب دوقوع دطلاقو قرينه کړيده دادليل واضح دی چې په حالت دغضب کې طلاق واقع کيږی اوپه سوال کې دبکر څه بيان هم ذکرنه دی مثلا داچې زه دغضب دلاسه په هوش نه وم اوماته څه خبر نسته چې زه څه وايم وغيره، بيا حکم دنه واقع کيدو دطلاق په دی صورت کې مشکل دی اودبکر ښکاره حالت ته په کتلو باندی دی مدهوش ګرځول صحيح نه دی اوپه باب دطلاقو کې احتياط په کاردی چې تحليل حرامو ته مفضی نه سی او په صورت مذکوره کې دری طلاقه ورکول ذکر دی ددې وجه څخه حکم دا دی چې بی له حلالې دامطلقه داول خاوند دپاره حلاله نه ده [2]. فقط

---

[1] ردالمحتار کتاب الطلاق ج۲ ص ۵۸۷ ، ط. س. ج۳ ص ۲۴۴. ظفير

[2] ويقع طلاق من غضب خلافا لابن القيم هذا هو الموافق عندنا (ردالمحتار کتاب الطلاق ج۲ ص ۵۸۷، ط. =

په وخت دطلاق کې داسې غصه وي چې بد حواسه وي نوڅه حکم دی؟ **سوال**: (۱۴۵) (مکرر، په مخکني سوال پوري اړوند) دجناب پردی جمله چې (په سوال کې دبکرڅه بیان هم مذکور نه دی) دبکر څخه پوښتنه کیږي نوهغه وایي چې بې شکه پرما داسې غصه غالبه سوې وه چې بدحواسه اوپه دهشت کې وم اوس به حکم دوقوع دطلاق څه وي؟

جواب: قاضي خوبه دانه مني اوحکم به دوقوع دطلاقو کوي خو دیانةً موافق داختیار دشامي طلاق به واقع نه وي اوبنده ته په دې کې تامل دی ځکه چې دباب التعلیق عبارت پرهرحال کې وقوع دطلاق غواړي اومحققینو مثلاً صاحب دفتح اودخانیه دا اختیارکړی دی اوداعبارت داحقر: په سوال کې دبکرڅه بیان الخ علی سبیل التنزل ؤ چې موافق داختیار دشامي دی چې کله دی وایي ماته څه پته نسته چې زما له ژبې څه ووتل.

دغصې پرطلاق سوال اوجواب: **سوال**: (۱۴۶) صاحب په استفتاء کې دا لیکلي وه چې په سوال کې دبکر هیڅ بیان هم ذکرنه دی مثلاً داچې زه دډیرې غصې څخه په هوښ نه وم او ماته هیڅ خبر نسته چې زه څه وایم که په خپله دابنکاره کړي چې زما داحالت وو دغه وخت دعدم وقوع دطلاقو حکم لګیدی سي که نور خلګ دده دښکاره حالت او دقرینې څخه دده بې هوښې بیان کړي نودا حکم به نه کیږي که بې هوښې دداسې حکم نه وي چې دی څه وایي دهغه خبر ورته نه وي نوآیا طلاق به واقع وي اوکه داسې ده نو دشامي ددې عبارت ددې حصې تردید به څه وي چې دامفتي صاحب دندوة العلماء پیش کړیدی هغه دادی: لا یلزم فیه ان یکون بحیث لا یعلم ما یقول بل یکفی فیه بغلبة الهذیان واختلاط الجد والهزل [1]؟

جواب: په خپله په ویلو سره هم معلومیدی سي اوکله یې نور خلګ هم په قرائنو سره معلومولی سي مثلاً داسې امور دده څخه وسي چې هغه یې په حالت دهوش کې نه سي کولی لکه چې لیونی او پاګلان لیدل کیږي او دشامي پرمذکوره عبارت باندې چې ده خپله کم اشکال پیش کړیدی: نعم یشکل علیه ما سیاتی فی التعلیق عن البحر وصرح به فی الفتح والخانیة وغیرهما الخ. اوپردې یې ویلي دي چې: هذا یشکل جدا. نو په حقیقت کې مذهب داحنافو هم هغه دی چې کم دفتح القدیر اوخانیه څخه نقل دي چې طلاق دغضبان واقع دی او تمام تفریعات فقهیه دطلاق دغضبان دوقوع مثبت دي اوچې کم جواب شامي داشکال مذکور ورکړیدی هغه کافي نه دی اوپه باب دحرمت دفروجو کې پوره احتیاط لازم دی، ددې وجه څخه په مذکوره سوال کې چې کم بیان سوی دی چې کم

= س. ج۳ ص۲۴۴). ظفیر

[1] ردالمحتار کتاب الطلاق ج۲ ص ۵۸۷ ، ط. س. ج۳ ص ۲۴۴. ظفیر

په غضب کی کیږی ددی جواب همدا کیدل پکاردی چی طلاق واقع دی. فقط

دنابالغ ورور په طلاقنامه لیکلو طلاق نه کیږي: **سوال**: (۱۴۷) دیونابالغ ښځی ته دده ورور دبل سړی په لمسون طلاقنامه ولیکله آیا دنابالغ طلاق واقع کیږی؟

جواب: دنابالغ طلاق نه واقع کیږی اودده ولی یعنی پلار ورور وغیره طلاق نسی ورکولی په درمختار کی دی: لایقع طلاق الولی علی امراة عبده والمجنون والصبی الخ (۱). اوپه حدیث پاك کی دی: الطلاق لمن اخذ الساق (۲). فقط

ښځه چی خاوند ته ورور یا پلار ووایی نوڅه حکم دی؟ **سوال**: (۱۴۸) که ښځه خپل خاوند ته ورور یا پلار ووایی نوطلاق وسو اوکه نه؟

جواب: په دی صورت کی طلاق صحیح نه سو (۳).

دښځی دناجائز تعلق څخه په بچی پیدا کیدو سره طلاق کیږی اوکه نه؟ **سوال**: (۱۴۹) که ښځه خرابه سی او حرام بچی پیدا سی نوطلاق صحیح سو اوکه نه؟

جواب: په دی سره هم طلاق نه کیږی (۴).

زه تا بیول نه غوارم په دي ویلو سره طلاق کیږي اوکه نه؟ **سوال**: (۱۵۰) زه تا بیول نه غوارم داکه خاوند ووایی نو طلاق راځی اوکه نه؟

جواب: په دی کی هم بی له نیته طلاق نسته (۵). فقط

دښځی متعلق یی ویلی دا خدای هم گنم اورسول هم نو طلاق صحیح وسو اوکه نه؟ **سوال**: (۱۵۱) غلام رسول په سنه ۱۹۲۴ کی عبثیات ویل اوکلمات دکفر هم دده دخولی څخه ووتل مثلا داچی زه خان بانو انجلی چی دده خوښهٔ ده خدای هم گنم اورسول هم گنم والعیاذ بالله بیا په ۳۰ جولایی سنه ۱۹۲۵ باندی ده خپلی ښځی ته مغلظ طلاق ورکی، په دی باره کی دمولوی احمد دین جواب دادی چی دا الفاظ دکفر دی، قائل یی مرتددی او دمرتد طلاق واقع کیږی ددی وجه څخه بی له حلاله دده ښځه به ده ته جائز نه وی ددی

(۱) ایضا کتاب الطلاق ج۲ ص ۵۸۵ ، ط. س. ج۳ ص ۲۴۴ مطلب فی طلاق المدهوش. ظفیر

(۲) الدرالمختار علی هامش ردالمحتار کتاب الطلاق ج۲ ص ۵۸۵ ، ط. س. ج۳ ص ۲۴۲. ظفیر

(۳) لان الطلاق لایقع من النساء (ایضا باب نکاح الکافر ج۲ ص ۵۳۲ ، ط. س. ج۳ ص ۱۹۰). ظفیر

(۴) لا یجب علی الزوج تطلیق الفاجرة (ایضا فصل فی المحرمات ج۲ ص۴۰۲، ط. س. ج۳ ص۵۰) لوزنت امراة رجل لم تحرم علیه (ردالمحتار فصل فی المحرمات ج۲ ص ۳۸۲. ط. س. ج۳ ص ۳۴). ظفیر

(۵) ففی حالة الرضاء ای غیر الغضب والمذاکرة تتوقف الأقسام الثلاثة (من الکنایات المذکورة) علی نیة للاحتمال القول له بیمینه في عدم النیة الخ وفي الغضب توقف الأولان إن نوی وقع وإلا لا وفي مذاکرة الطلاق یتوقف الأول فقط ویقع بالأخیرین وإن لم ینو (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار کتاب الطلاق باب الکنایات ج۲ ص۲۴۰، ط. س. ج۳ ص ۳۰۰). ظفیر

څخه علاوه دوهم اودریم جواب دعدم وقوع دطلاقو دی، په دی صورت کی ستاسو څه تحقیق دی؟

جواب: په دی صورت کی داحقر په نزد مخکی جواب صحیح دی یعنی حکم دارتداد به په دی صورت کی وی بی له حلالی به دابنځه مطلقه ثلثه داول خاوند سره نکاح نه سی کولی (۱) لکه چی په درمختار اوشامی کی تصریح ده چی ردة حکم دطلاق نه باطلوی.

په درمختار اوشامی کی تصریح ده: فلا يحلها وطؤ المولى ولا ملک امة بعد طلقتين او حرة بعد ثلث وردة وسبى الخ (درمختار) قال فى الشامى أي لو طلقها ثنتين وهي أمة ثم ملكها أو ثلاثا وهي حرة فارتدت ولحقت بدار الحرب ثم سبيت وملكها لا يحل له وطؤها بملک اليمين حتى يزوجها فيدخل بها الزوج ثم يطلقها كما في الفتح ثم قال بعد اسطر: فوجه الشبه بين المسألتين أن الردة واللحاق والسبي لم تبطل حكم الظهار واللعان كما لم تبطل حكم الطلاق الخ ص۵۳۹ جلد۲ شامی (۲).

دنشي په حالت کی یی طلاق ورکی خوخاوند ته یاد نه دي ښځه وایی اوڅه شاهد هم نسته نو څه حکم دی؟ **سوال**: (۱۵۲) یوسړی په حالت دنشه کی دری واره دخپلی ښځی نوم واخیستی اوطلاق یی ورکی چی څه ماتاته طلاق درکړیدی خوسړی ته خپل ویل معلوم نه دی صرف ښځه وایی چی تا ماته داسی وویل او ددی بل څه شاهد هم نسته نوپه دی صورت کی طلاق صحیح سو اوکه نه؟

جواب: دسکران طلاق دصحیح مذهب موافق کیږی نوپه صورت مسئوله کی چی کله ښځه په دی اقرار کوی اوخاوند هم انکار نه کوی نوپه ښځی دری طلاقه واقع سوه اوس

---

(۱) ددی مطلب دادی چی دکفر دکلماتو دوجه غلام رسول مرتد سو اوتر اوسه یي تجدید دایمان نه دی کړی چی کال وروسته ده خپلی ښځی ته طلاق مغلظ ورکی نوپه حالت دارتداد کی دی جواب دطلاق ورکی نودا دده پر ښځی واقع سو اوس دتجدید دایمان څخه وروسته دی پخوانی ښځه بی دحلالی څخه نه سی ساتلی: ويقع طلاق زوج المرتدة عليها ما دامت في العدة لأن الحرمة بالردة غير مؤبدة فإنها ترفع بالإسلام فيقع طلاقه عليها في العدة الخ قلت وهذا إذا لم تلحق بدار الحرب ففي الخانية قبيل الكنايات المرتد إذا لحق بدار الحرب فطلق امرأته لا يقع وإن عاد مسلما وهي في العدة فطلقها يقع والمرتدة إذا لحقت فطلقها زوجها ثم عادت مسلمة قبل الحيض فعنده لا يقع وعندهما يقع (ردالمحتار باب نكاح الكافر ج۲ ص۵۳۹. ط. س. ج۳ ص۱۹۳) ددی څخه معلومه سوه چی دارتداد څخه وروسته په عده کی هم طلاق واقع کیږی خو دارتداد څخه وروسته دعده دتیریدو څخه وروسته که چیري مرتد خپلی ښځی ته طلاق ورکی نو دپورتنی تفصیل څخه معلومیږی چی طلاق به واقع نه وی په صورت مسئوله کی غلام رسول دکلماتو دکفر څخه یوکال وروسته طلاق ورکی نودا صراحت ضروری وو چی که ده دا طلاق مغلظ دعدی دختمیدو څخه مخکی ورکړی وی نو واقع سو او اوس حلاله ضروري ده اوکه چیري دعدت دتیریدلو څخه وروسته دا طلاقِ مغلظه ورکول سوی وي نودا طلاق به واقع نه وي، والله اعلم. ظفیر مفتاحی

(۲) وګوره ردالمحتار باب الرجعة ج۲ ص ۷۴۱ ، ط. س. ج۳ ص ۴۱۲. ظفیر

بی له حلالې ددوی په مینځ کی دحلت هیڅ صورت نسته په هدایه کی دی: طلاق السکران واقع الخ لانه زال عقله بسبب هو معصیة فجعل باقیا حکما زجرا له (۱).

دغضب دحالت طلاق واقع کیږی اوکه نه؟ سوال: (۱۵۳) زید چی نیك سړی دی خپلی منکوحی موطوئة ته یې وویل په سخت غضب اودغصی په حالت کی تاته یوطلاق ښځی وویل چی ماته دطلاقو ضرورت نسته اوبیا زید په سخته غصه کی وویل دری طلاقه، دری طلاقه، سل طلاقه، چی په دی کی دزید خور راغله اوزید ته یی وویل چی په هوش کی سه ستا هوش پرځای نه دی، زید وویل زه په هوش کې یم، دغصه ختمیدو څخه پس زید خپلی خور ته وویل چی تا ماته وویل په هوش کی سه اوما داچی زه په هوش کی یم نه دی ویلی دزید نیت هم دطلاق ورکولو نه وو او ددوو ښځو اودیو سړی دشاهدی څخه معلومه سوه چی دزید هوش اوحواس پرځای نه وه، سترګی یی سری وی او پټکی یی دسر څخه غورځیدلی وو او لاس او پښې یی رپیدل خو زید وایی چی ماته دطلاق علم سته، نوطلاق واقع سو اوکه نه؟ که واقع وی نو په شامی جلد ثانی مصری ص۵۸۷ کی چی کم دغضب دحالت تشریح کړیده نو ددی څه مطلب دی؟

جواب: په دی باره کی مخکی علامه شامی دحافظ ابن قیم قول نقل کوی اوتحقیق کوی چی دهغه حاصل دادی چی که غصه اوغضب دی درجی ته رسیدلی وی چی دده حالت بالکل دلیوني وی اوده ته هوش اوخبر نه وی چی دی څه کوی نوپه دی حالت کی طلاق نه واقع کیږی که دمبادی دغضب اودمنتهاء دغضب مینځنی حالت وی لکه چی دصورت مسئوله څخه معلومیږی نوابن قیم په دی کی هم عدم وقوع دطلاق راجح ګڼی اوداحنافو مذهب په دی صورت کی دوقوع دطلاقو دی کما فی الشامی: لکن اشار الی مخالفته فی الثالث حیث قال: ویقع الطلاق من غضب خلافا لابن القیم (۲). په آخر کی علامه شامی دفتح القدیر او دخانیه څخه یوه مسئله نقل کړیده چی پردی دلالت کی چی په حالت دغضب طلاق واقع کیږی اومسئوله صورت ددی مطابق دی، هغه مسئله داده: لو طلق فشهد عنده اثنان أنك استثنیت وهو غیر ذاکر وإن کان بحیث إذا غضب لا یدري ما یقول وسعه الأخذ بشهادتهما وإلا لا الخ (۳) ثم ذکر الاشکال والجواب عنه فراجعه حاصله وقوع الطلاق فی مثل الصورة المسئولة عنها (۴). غرض داچی په صورت

(۱) هدایه کتاب الطلاق ج۲ ص ۳۳۸ – ۳۳۹. ظفیر
(۲) ردالمحتار کتاب الطلاق ج۲ ص ۵۸۷ ، ط. س. ج۳ ص ۲۴۴. ظفیر
(۳) ردالمحتار کتاب الطلاق ج۲ ص ۵۸۷ ، ط. س. ج۳ ص ۲۴۴. ظفیر
(۴) وګوره ردالمحتار للشامی کتاب الطلاق ج۲ ص ۵۸۷ ، ط. س. ج۳ ص ۲۴۴. ظفیر

مسئوله کي دري طلاقه واقع سوه بي له حلالې داول خاوند دپاره هيڅ صورت نسته فقهاء کرامو چي کم اقسام دکناياتو اواقسام دمطلق تفصيل کوی دهغه څخه هم ښکاره کيږي چي دغضب دحالت طلاق واقع کيږي باقي هغه غضب چي بالکل دليونتوب حالت سي نو هغه به ځيني وتلي وي چي دا ليونتوب دي او دسترګو سره کيدل وغيره په دي حالت کي دليل نه دي په غصه کي اکثره داسي کيږي په احاديثو کي دي: الا ترٰی الی انتفاخ اوداوجه واحمرار عينيه الحديث (۱) او کما قال رسول الله ﷺ. اوپه ابوداود کي دي: استبت رجلان عند النبي ﷺ جعل احدهما تحمر عيناه وتنفخ اوداوجه الحديث (۲).

خاوند انکار کوي اوشاهد شاهدي ورکوي نوځه حکم دي؟ سوال: (۱۵۴) ديوسړي په باره کي څلور شاهدان شاهدي ادا کوي چي ده خپلي ښځي ته طلاق ورکړي اونور خلګ وايي چي موږ نه دي اوريدلي نوطلاق به واقع وي اوکه نه؟ اوخاوند انکار کوي.

جواب: په شاهدانو کي چي دوه شاهدان هم عادل وي (۳) نوطلاق به واقع وي اوانکار دخاوند به مقبول نه وي.

چي خاوند منکردي او په شاهدانوکي اختلاف دي نوڅه حکم دي؟ سوال: (۱۵۵) ښځه وايي چي خاوند ماته دري طلاقه راکړيدي اوخاوند منکردي اودوه شاهدان دي خودغه وخت دواړه موجودنه وه په بل مجلس کي ددوی په مخکي خاوند اقرار کړيدي اوپه دوی کي يو دطلاقو اقرار کوي اوبل وايي چي دطلاقو اقرار يي نه دي کړي بلکي دايي ويلي دي چي ښځه به نه ساتم نو ايا طلاق واقع سو اوکه نه؟

جواب: چي کله خاوند منکردي دطلاقو څخه او دشاهدانو په خپل مينځ کي اختلاف دي نو ددي وجه څخه په مسئوله صورت کي به طلاق ثابت نه وي او دښځي دعوه خطاده او قول دخاوند معتبر دي. کما في الشامي في شرح قول الدرالمختار وکذا تجب مطابقة الشهادتين لفظا ومعنٰی بطريق الوضع قوله بطريق الوضع ای بمعناه المطابقی وهذا جعله الزيلعی تفسيرًا للموافقة فی اللفظ الخ (۴).

ګونګي په ژبه دحال يعني په اشاره سره ښځه پريښووله نوطلاق واقع سو اوکه نه؟ سوال: (۱۵۶) زيد پيدائشي ګونګي دي خو دعقل ديوهي اودګتي تاوان اوڅه دحرام او حلال

(۱) مشکوٰة باب الامر بالمعروف ص ۴۳۷. ظفير

(۲) ابوداود باب مايقبل عند الغضب ج۲ ص ۳۰۳. ظفير

(۳) ونصابها من الحقوق سواء کان الحق مالا اوغيره کنکاح وطلاق ووکالة الخ رجلان اورجل وامراتان (الدر المختار علی هامش ردالمحتار کتاب الشهادات ج۵ ص ۵۱۵). ظفير

(۴) وګوری ردالمحتار شامی کتاب الشهادات الاختلاف فی الشهادات ج۲ ص۵۳۹. ظفير

تمیز هم لری او روژه اولمونځ په اشاره اداء کوی دکور اودمحلي خلګ دده په اشاره باندی پوهیږی دشپې په وخت یی دخپلې ښځی څخه څه ناروا امر کیدل ولیدل اوپه غصه کی راغی خپل پلار او ورور اوځو ښځو ته یی په اشاره اوژبه سره وویل چی دامی پرینښووله او ومی ایستله آیا دده ښځه طلاقه سوه اوکه نه؟

جواب: دطلاق اخرس باشارته المعهودة واقع دی کما في الدرالمختار: او اخرس ولو طاريا ان دام للموت به يفتی (۱) الخ واستحسن الکمال اشتراط کتابته بإشارته المعهودة فإنها تکون کعبارة الناطق الخ وفی الشامی وطلاق المفهوم بالاشارة اذا کان دون الثلاث فهو رجعی کذا فی المضمرات (۲). (نو معلومه سوه چی په دی معینی اشاری سره به طلاق وسی، ظفیر).

نشه یی وکړه چی کله یې هوش نه وو نو طلاق یی ورکی نو وسو اوکه نه؟ سوال: (۱۵۷) زیدته څو کسانو بنګي داندازی څخه زیاتي ورکړی چی په دی سره دده هوش اوحواس ولاړه په حالت دنشه کی یی دده ښځه دده په مخکی راوسته او ورته وی ویل چی دیته طلاق ورکړه نوپه حالت دسکر کی زید دیته طلاق ورکی نوطلاق واقع سو اوکه نه؟

جواب: دنشی په حالت کی په طلاق ورکولو سره طلاق کیږی کذا فی کتب الفقه نو ددی سړی پرښځی په دی صورت کی طلاق واقع سو (۳).

صرف ددوو ښځوپه شاهدی سره طلاق نه ثابتیږی: سوال: (۱۵۸) الله رکهی نومی ښځه وایی چی ماته زما خاوند طلاق راکړیدی خوپه دی مجلس کی په خپله موجود نهٔ بلکه عبد الوحید او مقبول احمد نومي سړی اوخورشیدی، بیګم، زینب اوحسینه نومي ښځی موجودي وی دټولو بیان دی چی زموږ په مخکی یی طلاق ورکړیدی داعرض دی چی حسینه او خورشیدی نومي ښځی دلمانځه پایبندی دی او زینب اوبیګم او عبدالوحید دلمانځه پایبنده نه دی نوپه دی صورت کی طلاق واقع سو اوکه نه؟ دشاهدانو بیانونه د

---

(۱) الدرالمختار علی هامش ردالمحتار کتاب الطلاق ج۲ ص ۵۸۴ ، ط. س. ج۳ ص ۲۴۱. ظفیر

(۲) ردالمحتار کتاب الطلاق ج۲ ص ۵۸۴ ، ط. س. ج۳ ص ۲۴۱. ظفیر

(۳) ویقع طلاق کل زوج بالغ عاقل الخ ولو سکران ولو بنبیذ اوحشیش او افیون اوبنج زجراً به یفتی تصحیح القدوری واختلف التصحیح فیمن سکر مکرها (درمختار) وفی التتارخانیة طلاق السکران واقع اذا سکر من الخمر والنبیذ وهو مذهب اصحابنا (ردالمحتار کتاب الطلاق ج۲ ص۵۸۲ - ۵۸۴. ط. س. ج۳ ص۲۳۵) اوکه نشه په زور باندی سوی وی نوپه دی حالت دطلاقو کی اختلاف دی خو راجح داده چی طلاق واقع نه دی: فصحح فی التحفة وغیرها عدم الوقوع وجزم فی الخلاصة بالوقوع قال فی الفتح والاول احسن لان موجب الوقوع عند زوال العقل لیس الا النسب فی زواله بسبب محظور وهو متنف وفی النهر عن تصحیح القدوری انه التحقیق (رد المحتار کتاب الطلاق ج۲ ص۵۸۳). ظفیر

استفتاء سره لګیدلی دی.

جواب: په دی صورت کی شرعی نصاب دشاهدی موجود نه دی ځکه چی صرف دوی ښځی لمونځ ګذاری دی حسینه او خورشیدی نو ددوی شاهدی کافی نه ده نو ددی وجه څخه دخاوند قول معتبر دی اوطلاق به ثابت نه وی (۱).

<u>یو سړی ښځی ته دا وویل چی زه ستا ښځه نه یم اوته هم زما خاوند نه یی نوڅه حکم دی؟</u>

سوال: (۱۵۹) یوسړی خپلی ښځی ته دغصی په حالت کی دری واره دا الفاظ وویل چی زه ستا ښځه نه یم اوته می خاوند نه یی نوپه دی ویلو سره طلاق واقع سو اوکه نه؟

جواب: په دی ویلو سره هیڅ نه کیږی طلاق واقع نه دی بیا ددا سی ویلو څخه ځان ساتل پکاردی (۲). فقط

<u>په غلط مشهوریدو سره طلاق نه کیږی</u>: **سوال**: (۱۶۰) دمصاحب علی او دده دښځی په مینځ کي دډیری مودی راهیسی خفګان دی څوکسانو دمصاحب علی څخه په ناجوړی او په صحت کی پوښتنه وکړه چی آیا تاخپلی ښځی ته طلاق ورکړیدی نوده جواب ورکی چی نه ما طلاق ورکړیدی اونه زه خفه یم صرف دا دخپل پلار کره تللی ده چی کله یی هم زړه وغواړی نوراځی دی خپل کور یی سته خو دوفات دمصاحب علی څخه وروسته غلام مصطفی چی هغه ته مصاحب علی ټول جائیداد هبه کړیدی داغلطه مشهوره کړه چی مصاحب علی خپلی ښځی ته طلاق ورکړیدی آیاپه دی غلط مشهوریدو سره طلاق ثابت سو اوښځه به دخپل خاوند دترکی څخه محرومه وی اوکه نه؟

جواب: په دی صورت کی دخلګو دا مشهورول چی متوفی خپلی ښځی ته طلاق ورکړی وو حال دادی چی دمتوفی ښځه ددی څخه انکار کوی خطا اوباطل دی دخلګو په ویلو دخاوند دمرګ څخه وروسته طلاق نه سی ثابتیدی خصوصا چی کله ددوی خودغرضی معلوم وی علاوه ددی څخه که دخاوند طلاق ورکول په مرض الموت کی ثابت هم سی او دعدی دختمیدو څخه مخکی خاوند مړسو نوښځه بیا هم دخاوند په ترکه کی وارثه ده. کما فی الدرالمختار فلو ابانها وهو كذالك ومات فيه بذلك السبب ورثت هی الخ (۳).

---

(۱) ونصابها لغيرها من الحقوق الخ كنكاح وطلاق رجلان الخ اورجل وامراتان الخ ولا تقبل شهادة اربع بلارجل (الدرالمختار على هامش ردالمحتار كتاب الشهادات ج۴ ص ۵۱۵ – ۵۱۲). ظفير

(۲) دطلاقو مالك سړی دی ښځه نه ده نوپه دی اساس دښځی په دغه جمله ویلو سره دطلاق دوقوع سوال نه پیدا کیږی. انما الطلاق لمن اخذ الساق (ابن ماجه ۲ ۱۵۰، شامی ج۳ ص ۲۴۲). ظفير

(۳) الدرالمختار على هامش ردالمحتار باب طلاق المريض ج۲ ص۷۱۷، اذا طلق الرجل امراته فی مرض موته طلاقا بائنا فمات وهی فی العدة ورثته (هدايه باب طلاق المريض ج۲ ص۳۷۰، ط. س. ج۳ ص ۳۸۲ – ۳۸۷).

خاوند دطلاقو څخه انکارکوي اوبل يې اقرار کوي خوشاهد نسته نوڅه حکم دي؟ سوال:
(۱۲۱) دزيد يو زوى دى زيد دده څخه خفه دى زيد خپلى ښځى ته وايى چى ته زوى ته ووايه كه تاپه نګينه كى شكل وښووى نودا ستا پرمور درى طلاقه زيد اودده دښځى ماسوا بل دريم سړى نه وو موجود او دزيد ښځى خپل زوى ته داپيغام ورسوى او زوى ددى نګينه څخه دباندي ولاړى مذكوره بيان دزيد دښځى دى زيد داوايى چى ما دمور لفظ نه دى ويلى بلكى دامي وويل چى ته ده ته ووايه كه دى دلته شكل ښكاره كړى نو پرده درى طلاق دى.

جواب: چى كله دوه عادل سړى يا يوسړى او دوى ښځى دلفظ دمور ويلو شاهد نه وى او زيد ددى لفظ څخه انكار كوى نوقول دزيد معتبردى اودزيد پرښځه به طلاق واقع نه وى هكذا فى كتب الفقه (۱).

په زور سره طلاق اچول كيږي: سوال: (۱۲۲) زيد نرښځى دى رقصونه كوي غزلى اوډول وهى دښځى په حقونو كى هميشه كمى كوى دښځى دوارثانو دزيد څخه دجبرى طلاق اچولو اراده ده نوڅه حكم دى؟

جواب: دزيد څخه كه جبرى طلاق واچول سى نودا طلاق واقع كيږى كما صرح به فى الدر المختار وغيره (۲).

په مسئوله صورت كى طلاق ونه سو: سوال: (۱۲۳) يوه ښځه دخاوند څخه پټه دپلار كره ولاړه وروسته يې خاوند ته وليكل چى تا ماته طلاق راكړيدى اوكه ته دطلاقو څخه انكار كوى نودلته راسه اوفيصله وكړه تاته داتو ورځو مهلت دى كه په يوه هفته كى رانغلى نوماته دنكاح كولو اختيار دى خاوند ددى ليك څخه څه جواب ورنه كى اونه په خپله ولاړى نودده پرښځى طلاق واقع سو اوكه نه؟

جواب: كه په واقع كى خاوند مخكى طلاق نه وى وركړى اوخاوند ته دطلاقو څخه انكار دى نوصرف دښځى په ليكلو اوخاوند ته په نوټس ليږلو اوڅه جواب نه وركولو سره هيڅ قسم طلاق نه واقع كيږى او دښځى داويل خطادى ځكه چى دښځى هيڅ اختيار دطلاق بى له اختيار وركولو دخاوند نسته (۳). فقط

---

(۱) ونصابها لغيرها من الحقوق سواء كان الحق مالا او غيره كنكاح وطلاق الخ رجلان الخ او رجل وامرتان (الدر المختار على هامش ردالمحتار كتاب الشهادات ج۴ ص۱۵۱). ظفير

(۲) ويقع طلاق كل زوج بالغ عاقل الخ ولو مكرها فان طلاقه صحيح لا اقراره بالطلاق (الدرالمختار على هامش ردالمحتار كتاب الطلاق ج۲ ص ۵۷۹ ، ط. س. ج۳ ص ۲۳۵). ظفير

(۳)حديث نبوى دى: انما الطلاق لمن اخذ بالساق (ابن ماجه ص ۱۵۰، شامي ط. س. ج۳ ص۲۴۲) طلاق دسړى =

دطلاق په طلب کولو یی وویل چی ان شاء الله طلاق نوطلاق واقع سو اوکه نه؟ سوال: (۱۲۴) هندي دزیدزوجي دزید ځخه طلاق وغوښتی زیدوویل چي ان شاء الله تاته طلاق دی، په دې صورت کي طلاق واقع سو اوکه نه؟

جواب: په دې صورت کي طلاق واقع نه سو نکاح باقي ده. (۱) فقط

زید عُمر ته اضافي طلاق ورکی، نوځه حکم دی؟ سوال: (۱۲۵) زید عمر ته اضافی طلاق ورکی اوعمر دمفهوم دموصوفه طلاقو ځخه بالکل لا علمه دی نوطلاق اضافی واقع کیږی اوکه نه؟ اوپه مذهب دامام ابوحنیفه یا دصاحبینو ﷬ بناء پراضافی طلاقو یو داسي شی سته چی دی عمل کولی سی یاپه وجه دبی خبری په نورو مذهبونو عمل کولی سی؟

جواب: په شامی کی یی ددی متعلق داتحقیق کړیدی چی دامام محمد ځخه چی کم په دی باره کی روایت دعدم وقوع دطلاق دی داضعیف دی اوپه دی فتوٰی نه سی ورکول کیدی: لايقال إذا كان ذلك قول محمد فكيف لا يفتيه به لما علمت من أن ذلك رواية عن محمد وأن قوله كقول الشيخين بالوقوع وأن ما في الظهيرية لا ينافي ذلك كما قررناه آنفا وليس للمفتي الإفتاء بالرواية الضعيفة وكونها أفتى بها كثير من أئمة خوارزم لا ينافي ضعفها ولذا تقدم عن الصدر أنه لا يحل لأحد أن يفعل ذلك الخ. (۲) اوددی ځخه یی لږ مخکی دالیکلی دی: يعنى ان المفتى لا يفتي صاحب الحادثة بما يتوصل به إلى فسخ اليمين فلا يقول له ارفع الأمر إلى شافعي او أحكمه في ذلك أو استفته بل يقول يقع عليك الطلاق لأن عليه أن يجيب بما يعتقده الخ (۳). فقط

پلار شرط ولیکی اوښځی والا وویل که زه دشرطونو خلاف وکړم نودرواغجن به یم نوپه صورت دخلاف ورزی کی ځه حکم دی؟ سوال: (۱۲۶) دزید پلار خالد دا اقرارنامه دهندی مورته ولیکله چی ترڅه وخته پوري دهندی مور دهندی دزید په نکاح کی ساتل غواړی نو صحیح دی اوچی کله وغواړی جلا دی کړی زید دا الفاظ وایی چی زما پلار په اقرار نامه کی کم شرائط لیکلی دی که زه ځه جګړه خلاف ددی شرطونو وکم نو درواغجن به یم زید تراوسه پرخپلو شرطونو قائم دی خواوس دی خپله ښځه هنده خلاف دشرطونو

حق دی دښځی په وینا طلاق نه واقع کیږی. ظفیر

(۱) واذا قال لامراته انت طالق ان شاء الله تعالى متصلا لم يقع الطلاق لقوله ﷺ من خلف بطلاق اوعتاق وقال ان شاء الله متصلا به لاحنث عليه (هدايه فصل فى الاستثناء ج۲ ص ۳۲۹). ظفير

(۲) و (۳). وګوری ردالمحتار كتاب الطلاق مطلب فى فسخ اليمين المضافة الى الملك ج۲ ص۷۸۳، ط. س. ج۴ ص۳۴۷. ظفیر

داقرارنامې څخه خپل کور علاقه غیر ته بیول غواړي نو داقرارنامی په خلاف ورزی کولو به طلاق عائد وی اوکه څه حکم به وی؟

جواب: شرعا په دی صورت کی پرهنده به طلاق واقع نه وی ځکه چی دزید دپلار یعنی دخاوند دپلار اقرار په باره دطلاق کی معتبر نه دی اوزید په دی الفاظو سره شرطونه کړیدی چی که زه څه جګړه خلاف ددی شرطونو وکړم نو درواغجن به یم په دی کی ذکر دطلاق نسته ددی وجه څخه په دی صورت کی پرهنده به طلاق واقع نه وی (۱).

<u>دوه طلاقه رجعی یو په بل پسی یی ورکړل په دریم وار یی په ان شاء الله سره طلاق ورکی دا واقع نه سو</u>: سوال: (۱۲۷) زید خپلی ښځی هندی ته یورجعی طلاق ورکی اوهمدغه وخت یی رجوع وکړه یوه دوی میاشتی وروسته یی بیا یورجعی طلاق ورکی او همدغه وخت یی رجوع وکړه دیو کال څخه وروسته بیاده دی ښځی ته وویل چی تاته طلاق ان شاء الله په دی صورت کی طلاق واقع سو اوکه نه؟

جواب: په دی صورت کی طلاق واقع نه دی کذا فی الدرالمختار (۲).

<u>دښځی نوم یی بدل کی اوطلاق یی ورکی نوڅه حکم دی</u>؟ سوال: (۱۲۸) زید په وخت ددوهمی نکاح مخکی ښځی ته طلاق مغلظ ورکی خوزید دمخکی ښځی نوم په وخت دطلاق بدل کی مثلا دمنکوحی نوم هنده وو اوده کلثوم نوم واخیستی اوطلاق یی ورکی خو دمخکی ښځی دپلار اودځای دپیدا کیدو نوم زید صحیح واخیستی په وخت دطلاق کي، آیا دښځی په نوم بدلولو سره طلاق واقع سو اوکه نه؟

جواب: چی کله داحاضره نه وی اونه دیته اشاره وسی اونوم دبل چا واخیستل سی نو دده پرمخکی ښځه به طلاق په دی صورت کی واقع نه وی لکه چی په درمختارکی دی: غلط وکیلها بالنکاح فی اسم ابیها بغیر حضورها لم یصح للجهالة وکذا لو غلط فی اسم بنته الا اذا کانت حاضرة واشار الیها فیصح (۳). نو لکه څنګه چي په نکاح کی په غلط نوم نکاح نه کیږی همداسی په طلاق کی به هم طلاق واقع نه وی.

<u>په زورسره طلاق اچول کیږی اوکه نه</u>؟ سوال: (۱۲۹) که یو سړی پرچا په زورسره دده ښځی

---

(۱) اذا اضاف الطلاق الی النکاح وقع عقیب النکاح الخ فاذا اضافه الی الشر وقع عقیب الشرط اتفاقا مثلا ان یقول لامراته ان دخلت الدار فانت طالق (عالمگیری کشوری الفصل الثالث فی تعلیق الطلاق ج۲ ۴۴۰ ط. ماجدیه ج۱ ص۴۲۰) او دلته نکاح ته اضافت نسته ځکه به طلاق واقع نه وی والله اعلم. ظفیر

(۲) قال لها انت طالق ان شاء الله متصلا الخ مسموعا بحیث لو قرب شخص اذنه الی فیه یسمع لا یقع للشك (در مختار) قوله بحیث اشار به الی ان المراد بالمسموع ما شانه ان یسمع وان لم یسعه المنثی لکثرة اصوات مثلا (رد المحتار کتاب الطلاق مطلب الاستثناء ج۲ ص ۷۰۰، ط. س. ج۳ ص ۳۶۸ – ۳۶۲). ظفیر

(۳) الدرالمختار علی هامش ردالمحتار کتاب النکاح ج۲ ص ۳۷۸. ط. س. ج۳ ص۲۲. ظفیر

ته طلاق واچوی نودا به واقع وی اوکه نه؟ اوکه واقع وی نو دابن ماجه ددی حدیث څه مطلب دی چی ترجمه یی داده. الله ﷻ زما دامت څخه خطا اوچی څه ورڅخه په زور سره صادر سی معاف کړیدی؟

جواب: دده طلاق واقع کیږی (۱) ځکه چی په یوبل حدیث کی دی: ثلاث جدهن جد وهزلهن جد (۲) الحدیث. په دی کی نبی کریم ﷺ طلاق هم شمارلی دی.

دښځی دخولی څخه دکفر دکلمې دوتلو څخه وروسته یې دری طلاقه یی ورکړل نوڅه حکم دی؟ **سوال**: (۱۷۰) زید خپلی ښځی ته دکفر دکلمې دویلو څخه وروسته دری طلاقه په یوه مجلس کی ورکړل اوکال وروسته زید هم ددغه ښځی سره بی له شاهده په خپله عقد وکی نودا جائزدی اوکه نه؟

جواب: په کلمه دکفر سره تفریق کیږی (۳) بیا طلاق نه واقع کیږی اوکه کلمه دکفر نه وی سوی نو په یوه مجلس کی په دری طلاقه ورکولو سره دری طلاق کیږی (۴) اوبی له حلالې داول خاوند دپاره دانښځه حلاله نه ده.

دخاوند دولی طلاق به دده پرښځی واقع نه وی: **سوال**: (۱۷۱) که زید او دده ښځه په عمر دپنځو شپږو کالو دی او دزید پلار، نیکه یا اکا دزید ښځی ته دری طلاقه ورکړی نو طلاق به واقع وی اوکه نه؟

جواب: دنابالغ طلاق نه واقع کیږی اونه دنابالغ دپلار نیکه وغیره طلاق واقع کیږی نو درجوع ضرورت نسته نکاح ددوی قایمه ده قال ﷺ الطلاق لمن اخذ بالساق (۵). وقال ﷺ رفع القلم عن ثلاثة الحدیث (۶).

طلاق ورکوم یی وویل نوطلاق واقع سو؟ **سوال**: (۱۷۲) دزیدزوی خالدخپلی ښځی ته وویل چی زه تاته طلاق درکړم او دخالد پلار زید وایی چی زه تاته طلاق درکوم او دخپل پلار

(۱) بخلاف الهازل واللاعب فانه یقع قضاء ودیانة لان الشارع جعل هزله به جدا فتح (الدرالمختار علی هامش رد المحتار کتاب الطلاق ج۲ ص ۵۸۵ ، ط. س. ج۳ ص ۲۴۲). ظفیر

(۲) مشکوٰة باب الخلع والطلاق فصل ثانی ص ۲۸۴، مخ ته ددی تشریح په خپله په حدیث پاك کی موجوده ده: النکاح والطلاق والرجعة رواه الترمذی (ایضا). ظفیر

(۳) وارتداد احدهما فسخ عاجل بلاقضاء (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب نکاح الکافر ج۲ ص۵۳۹، ط. س. ج۳ ص ۱۹۳). ظفیر

(۴) والبدعی ثلاث متفرقة اواثنتان بمرة الخ (درمختار) ذهب جمهور الصحابة والتابعین ومن بعدهم من ائمة المسلمین الی انه یقع ثلاث متفرقة وکذا بکلمة واحدة بالاولی (ردالمحتار کتاب الطلاق ج۲ ص ۵۷۲، ط. س. ج۳ ص۲۳۲). ظفیر

(۵) ابن ماجه ص ۱۵۰. ظفیر

(۶) مشکوٰة باب الخلع والطلاق ص ۲۸۴. ظفیر

کره څه اودده پلار څو واره داکلمه وویله دښځی پلار داکور ته راوسته په دی صورت کی طلاق واقع سو اوکه نه؟

جواب: چی کله خالد خپلی ښځی ته وویل چی زه تاته طلاق درکوم نو په دی سره دده پر ښځی یوطلاق واقع سو (۱) نو که خالد دری واره یا زیات داکلمه وویل نو دده پر ښځی به دری طلاقه واقع وی او دا ښځه دخالد دنکاح څخه ووتله.

دتیر جواب متعلق سوال: **سوال**: (۱۷۳) دلوړي مذکوره استفتاء متعلق بیا داپوښتنه کوو چی داوعده ده اوکه بالفعل تطلیق دی که څه هم دجواب احتمال ثانی ښکاره سویدی؟

جواب: که ده داویلی وی چی طلاق درکړم نوداصریح استقبال دی اووعده ده اوپه صورت مذکوره کی ده درکوم ویلی دی چی په ښکاره حال دی اوپه حال سره طلاق واقع کیږی په شامی کی دی. ولأن المضارع حقيقة في الحال مجاز في الاستقبال كما هو أحد المذاهب وقيل بالقلب وقيل مشترك بينهما وعلى الاشتراك يرجع هنا إرادة الحال بقرينة كونه إخبارا عن أمر قائم في الحال (۲) الخ. غرض دادی چی په حال سره طلاق واقع کیږی اود (درکوم) لفظ څخه په ښکاره حال مراد دی که څه هم احتمال سته چی مراد داوی چی بیا به یې درکوم خودا احتمال خلاف دښکاره دی.

دغصی طلاق واقع کیږی: **سوال**: (۱۷۴) زید په غصه کی خپلی ښځی ته وویل یوطلاق، دری طلاقه، پنځه طلاقه اوس زید وایی چی ماته په غصه کی هیڅ هوش نه وو ماته پته نسته چی ما څه ویلی دی نوپه دی صورت کی شرعا څه حکم دی چی طلاق واقع سو اوکه نه؟

جواب: په دی صورت کی دزید پرښځی دری طلاقه واقع سوه، ښکاره ده چی طلاق اکثره په غصه کی اچول کیږی اوغصه فقهاؤ قرینه دوقوع دطلاقو په بعض کتابونو کی لیکلی ده خو داهم په بعضو کتابونو کی تصریح سته چی که غصه دومره زیاته وی چی حد دلیونتوب ته رسیدلی وی اودغه وخت ده ته څه هوش نه وی نو ددغه وخت طلاق نه کیږی خو په معمولی غصه کی په وقوع دطلاقو کی هیڅ شبهه نسته (۳) او ددری طلاقو څخه بی له حلالی زید ددی سره نکاح نه سی کولی.

دلیونی څخه طلاق داسی واخیستل سوچی دی پوهیدی نوڅه حکم دی؟ **سوال**: (۱۷۵) هندی

---

(۱) لان المضارع حقيقة في الحال مجاز في المستقبل الخ (ردالمحتار كتاب الطلاق باب تفويض الطلاق ج۲ ص ۷۵۷ . ط. س. ج۳ ص ۳۱۹). ظفير

(۲) ردالمحتار باب تفويض الطلاق ج۲ ص ۷۵۷ ، ط. س. ج۳ ص ۳۱۹. ظفير

(۳) ويقع طلاق من غضب خلافا لابن القيم (ردالمحتار كتاب الطلاق ج۲ ص ۵۸۷ ، ط. س. ج۳ ص ۲۴۴). ظ

خپل ليوني خاوند ته وويل يا خو ماپه خپل كور كي اوسيدو ته پريږده او يا طلاق راكړه چي زه خپله دوهمه نكاح وكړم مجنون په كور كي داوسيدو څخه منع كړه اوپه اشاره سره يي وويل چي دكلي څو كسان راجمعه كړه كسان جمع سوه مجنون خپلي ښځي هندي ته په اشاره وويل چي مهر معاف كړه هنده پوه سوه اووي ويل چي مامهر معاف كي او بيايي دمعافي دمهر كاغذ هم وليكي ليوني داكاغذ په حفاظت سره په خپل دستمال كي وتړي اوپر طلاقنامه يي گوته دټولو په مخكي ولگوله نوپه داسي حالت كي طلاق واقع سو اوكه نه؟

جواب: ليوني ته كه كله هوش راسي نو دده حكم يي دهوښيار هلك په شان ليكلي دي يعني دده دا تصرفات كه ولي اجازه وركړي نوصحيح دي كنې نونه دي صحيح او دطلاق اجازه ولي هم نه سي وركولی. كما في الدرالمختار وان ضارا كالطلاق الخ لا وان اذن به وليها الخ (١) خو دامام محمد مذهب دادی چي په جنون حادث كي ديو كال مهلت دي ليوني ته وركول سي كه دي ښه نه سو نوقاضي دي تفريق وكړي اوپر دي فتوىٰ وركول سويده نو دليوني خاوند ته دي ديو كال مهلت وركړي كه دي ښه نه سو نوديو مسلمان قاضي په ذريعه دي تفريق وسي.

<u>بالغ سو نوطلاق وسو</u>: **سوال**: (۱۷۲) منا او بهادر دوه ورونه دي مشر منا اوكشر بهادر دي دبهادر واده په نابالغتيا كي سوی وو ښځه څوانه وه او بهادر نابالغ منا بهادر ته وويل ته طلاق وركړه اوزه به ورسره نكاح وكړم ددیوبند څخه معلومه سوه چي دنابالغ طلاق نه كيږي شپږ مياشتي وروسته منا بهادر ته وويل اوس ته بالغ يي طلاق وركړه خلاصه دا چي څنگه خبري اتري وسوي خو دبهادر څخه يي طلاق واخيستي دري ورځي وروسته منا دبهادر دښځي سره نكاح وكړه نوپه دي صورت كي طلاق واقع سو اوكه نه؟ اوعده په كار وه اوكه دمنا نكاح بي دعدي تيريدو صحيح سوه؟

۲\ په حالت دبلوغ كي دعمر اعتبار به وي اوكه دنورو علامو؟

جواب: په دي صورت كي طلاق واقع سو په دي شرط چي بهادر بالغ وي يعني چي پنځلس كاله يي پوره سوي وي اومناچي كمه نكاح دري ورځي وروسته وكړه نوكه بهادر دخپلي ښځي سره صحبت او كوروالي نه وي كړي او دكوروالي اودخلوت څخه يي مخكي طلاق وركړي وي نو ددي عده نسته اودعدي څخه مخكي هم نكاح جائزده اوكه خلوت اوصحبت سوي وي نوپردي عده واجبده اودعدي څخه مخكي نكاح صحيح نه ده.

---

(١) الدرالمختار على هامش ردالمحتار كتاب الماذون ج۵ ص۱۵۰، واما الذى يجن ويفيق فحكمه كمميز ونهاية (ايضا كتاب الحجر ج۵ ص۱۲۳). ظفير

۱۲ په دی حالت کی به ددی عمر کتل کیږي که دپنځلسو کالو عمر یی پوره سوی وی نو دی به بالغ وی اوبلي علامي ته به نه گورو (۱).

دطلاق په وخت دشاهد او دقاضی شرط هیڅ ځای هم نسته: سوال: (۱۷۷) آیاپه قرآن پاك کی سته چی طلاق به هلته کیږی چی دڅلورو شاهدانو اودقاضی په مخکی ورکول سی؟

جواب: داسی هیڅ ځای هم په قرآنکریم کی نسته.

گونگی چی دری کاڼی واچوی نو دابه طلاق نه وی: سوال: (۱۷۸) زید گونگی دی دده ښځی دده څخه دخلاصیدو دا صورت اختیار کی چی ده ته یی ددرو کاڼو دغورزولو وویل نو دگونگی په دی فعل سره به دری طلاقه واقع وی اوکه نه؟

جواب: په درو کاڼو غورزولو سره طلاق نه کیږی په درمختار کی دی: واراد بما اللفظ او مما یقوم مقامه من الکتابة المستبینة او الاشارة المفهومة فلا یقع بالقاء ثلثة احجار الیها. شامی (۲).

په طلاق ورکولو سره لفظ دان شآء الله کرار ووایی نوڅه حکم دی؟ سوال: (۱۷۹) که طلاق داسی ووایی چی کرار لفظ دان شاء الله ووایی مثلاً داسی ووایی چی زه به دټولو په مخکی دری طلاقه ورکوم خوان شاء الله په زړه کی ضرور ووایی او همداسی یی کړیدی یعنی ان شاء الله یی کرار وویل چی چا وانه وریده نودا طلاق واقع سو اوکه نه؟

جواب: که ان شاء الله دطلاق سره څوك داسی ووایی چی که څوك خپل غوږ دده دخولی سره ولگوی نووابه یی وری نودا استثناء معتبرده یعنی طلاق به نه وی واقع اوکه صرف په زړه کی یی ووایی اوپه ژبی سره یی داسی ونه وایی نوطلاق به واقع وی اواستثناء به صحیح نه وی په درمختار کی دی: قال لها انت طالق ان شاء الله متصلا مسموعا بحیث لو قرب شخص اذنه الی فمه یسمع فصح استثناء الاصم لایقع الخ (۳).

نوم یی جلا کی اوطلاق یی ورکی خو په پوښتنی کولو یی وویل چی ماته نوم معلوم نه وو ددی وجه څخه می داسی وویل نوڅه حکم دی؟ سوال: (۱۸۰) یوسړی دخپلی ښځی نوم بدل کی اوطلاق یی ورکی مثلا داسی یی وویل پر آبیبه خاتون بنت انور باندی طلاق او نوم ددې آبیبه خاتون نه دی بلکه رجب بانو ده نو یوچا ددی سړی څخه پوښتنه وکړه چی تا نوم ولی بدل کی ستاپه زړه کی شرارت دی ده جواب ورکی چی زما په زړه کی شرارت

(۱) بلوغ الغلام بالاحتلام والاحبال والانزال الخ فان یوجد فیهما شیء فحتی یتم لکل منهما خمس عشرة سنة به یفتی (ایضا فصل بلوغ الغلام ج۵ ص ۱۳۲. ط. س. ج۳ ص ۱۵۳). ظفیر

(۲) ردالمحتار باب الصریح ج۲ ص ۵۹۰، ط. س. ج۳ ص ۲۴۷. ظفیر

(۳) الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب التعلیق ج۲ ص ۷۰۰ - ۷۰۲، ط. س. ج۳ ص ۳۶۸ - ۳۶۶). ظفیر

نسته بلکی ماته دخپلی ښځی نوم نه وو معلوم ځکه می په دوهم نوم طلاق ورکی آیا په دی صورت کی نیت دطلاقو سته اوکه نه؟ اودمذکوره سړی ښځه طلاقه سوه اوکه نه؟

جواب: په مذکوره صورت کی چی کله مذکوره سړی په دوهم نوم اخیستو طلاق ورکی او خپلی ښځی ته یی اشاره هم ونه کړه نوبیا من حیث الدلیل قوی هم داده چی طلاق واقع نه سو ځکه چی اول خو دده الفاظ په تعین دنیت کی صریح نه دی، بیا که نیت یی وی هم نو بیاهم نیت په دی حالت کی څه فائده نه کوی پرباب دطلاقو حمل وی خو چی کله داسی نه دی نوبیا صرف نیت څنګه مفید کیدی سی حقیقی مدار خو صرف پر لفظ دی: قال فی البحر وفی المحیط الاصل انه متٰی وجدت النیة وغیر اسمها بغیره لایقع الخ لان بذالك الاسم تکون لامراة اجنبیة ولو بدل اسمها واشار الیها یقع بحر الرائق، مطبوعه مصر جلد۳ ص۲۷۳.

دنافرمانی په وجه په حالت دغصه کی یی طلاق ورکی نو صحیح دی اوکه نه؟ **سوال**: (۱۸۱) زید هندی ته په وجه دنافرمانی په حالت دغصه کی طلاق ورکی نوداسی طلاق ورکول صحیح کیدی سی اوکه نه؟

جواب: داسی طلاق واقع کیږی لکه چی په کتابونو دفقه کی په حالت دغضب یی قرینه دوقوع دطلاقو په بعضو کنایاتو کی ګرځولی دی او دارنګه ښکاره ده چی عادةً اکثره طلاق په حالت دغصه کی ورکول کیږی اوغصه دطلاقو باعث وی [1].

په نشه کی په طلاق ورکولو سره طلاق وسو: **سوال**: (۱۸۲) زید شراب وچیښل خو دده حواس صحیح وه په دی حالت کی یی خپله لور اوښځه را وبلل په دی سره دزید خواښی وویل چی ستا کره به نه ځی، اودری واره یی دا وویل چی ته طلاق ورکړه نوزید وویل: مور یی ګنم طلاق مي ورکی، په لاره کی دوو سړیانو دیو بل څخه وروسته ورسره ولیده پوښتنه یی وکړه چی تا خپلی ښځی ته څه وویل زید جواب ورکی چی موریی ګنم طلاق می ورکی داتو میاشتو څخه وروسته دواړه غواړی چی حق دزوجیت په یو طریقه قائم سی په دی صورت کی شرعا څه حکم دی؟

جواب: په دی صورت کی طلاق واقع سو خو مغلظ طلاق نه دی بی له حلالې داول خاوند سره ددی نکاح کیدی سی: قال فی الدرالمختار ویقع طلاق کل زوج بالغ عاقل ولو تقدیراً بدائع لیدخل السکران ولوعبدا اومکرها اوهازلا اوسکران الخ [2]. (درمختار).

---

[1] ویقع طلاق من غضب خلافا لابن القیم اھ وھو الموافق عندنا لما مر (ردالمحتار کتاب الطلاق ج ص ۵۸۷، ط. س. ج۳ ص ۲۴۴ طلاق المدهوش). ظفیر

[2] الدرالمختار علی هامش ردالمحتار کتاب الطلاق ج۲ ص ۵۷۹، ط. س. ج۳ ص ۲۳۵). ظفیر

دوهم باب

طلاق په ذريعه دتحرير په کمو صورتونو کې واقع دی اوپه کمو صورتونو کې نه دی

طلاق نامه يې دبل په ذريعه وليکله خو ښځې ته يې وويل نوطلاق واقع سو اوکه نه؟ سوال: (۱۷۳) يو سړی طلاق نامه وليکله خو لاښځې ته يې نه ده ښکاره کړې نوطلاق واقع سو اوکه نه؟

جواب: په شامي کې دی چې صرف په ليکلو سره طلاق واقع کيږي بلکه په شامي کې دا دی چې: ولو قال للكاتب اكتب طلاق امرأتي كان اقرارا بالطلاق وان لم يكتب (۱).

په ليکلو سره طلاق کيږي: سوال: (۱۸۴) ديو سړي ښځه وه دده ددوهم واده خبره وسوه په وخت دايجاب وقبول انجلي والا دی مجبوره کې چې مخکې ښځې ته طلاق ورکړې کنې نو عزت به مو ولاړ سي دی بې چاره مجبوراً طلاقنامه په لاس وليکله اوپه خوله يې اقرار ونه کې نوآيا شرعًا طلاق واقع سو اوکه نه؟

جواب: په دی صورت کې طلاق واقع سو. كذا صرح به في الدرالمختار (۲).

يو سړي دښځې دپاره دری طلاقه وليکل او ورته وی ويل که اوسيږی خو معافي وغواړه کنې نو طلاق نامه واخله: سوال: (۱۸۵) يو سړی په غصه کې خپلې ښځې ته په وثيقه نويس باندی دری طلاق وليکل اودشاهدانوپه مخکې يې خپلې ښځې ته وويل چې داطلاقنامه ما ددی دپاره ليکلې ده چې که ستا طلاق اخيستل خوښ وی نوتر ماښامه پورې سوچ وکه اوماښام زما ځخه داطلاق نامه واخله چې کم ځای ته دی خوښه وی هلته ولاړه سه که زماپه کورکې اوسيږی نوزما ځخه دخپل قصور معافي وغواړه نودماښام ځخه مخکې ښځه اوخاوند رضا سوه نوشرعا داطلاق واقع سو اوکه نه؟

جواب: په شامي جلدثاني کتاب الطلاق کې دی: ولو قال للكاتب اكتب طلاق امراتي كان اقرارا بالطلاق وان لم يكتب (۳). ددی عبارته ځخه واضحه ده چې په دی صورت کې دده پر ښځې دری طلاقه واقع سوه. وفي الحديث ثلث جدهن جد وهزلهن جد النكاح والطلاق والعتاق. او كما قال ﷺ (۴).

---

(۱) ردالمحتار کتاب الطلاق ج۲ ص ۵۸۹ ، ط. س. ج۳ ص ۲۴۷ – ۲۴۲، ثم المرسومة لاتخلو اما ان ارسل الطلاق بان كتب امابعد فانت طالق وكما كتب هذا يقع الطلاق وتلزمها العدة من وقت الكتابة (ايضا). ظفير

(۲) كتب الطلاق ان مستبينا على نحو لوح وقع ان نوى وقيل مطلقا نوى اولم ينو (الدرالمختار على هامش رد المحتار كتاب الطلاق ج۲ ص ۵۸۹ ، ط. س. ج۳ ص ۲۴۲). ظفير

(۳) وګوره ردالمحتار کتاب الطلاق مطلب فی الطلاق بالكتابة ج۲ ص۵۸۹، ط. س. ج۳ ص۲۴۷ – ۲۴۲. ظفير

(۴) وګوره مشكوة المصابيح باب الخلع والطلاق ص۲۸۲. ظفير

پر یوکاغذ یی ولیکل دزید پر ښځی دری طلاقه اوپر دی یی دزید ځخه دستخط واخیستی څه حکم دی؟ **سوال**: (۱۸۶) یوسړی دا ولیکل چې دزید ښځی هندی ته دری طلاقه اودزید څخه یی دستخط واخیستی زید په ژبه هیڅ هم ونه ویل نوپه دی صورت کی طلاق واقع سو اوکه نه؟

جواب: که زید ددی مضمون اوریدلی وی اودستخط یی کړی وی نوبیا خو دری طلاقه واقع سوه (۱) (اوکه ده ته نه وی اورول سوی اوپه دهوکه یی دده درضا څخه خلاف دستخط اخیستی وی یاپه زور نو بیا طلاق واقع نه سو، ظفیر).

دخاوند قریبانو طلاق ولیکی اودخاوند څخه یی دستخط واخیستی اوهم دی قریبانو ولیږی نو طلاق واقع سو اوکه نه؟ **سوال**: (۱۸۷) اغوی احد زوجة رجل واخفاها وادعی الرجل في محکمة الجرگة فافتی اهل الجرگة بان یطلق الرجل المذکور زوجته بعوض ان یاخذ من الذي اغوی زوجته مائتی روبیة وینکح بنت اخریٰ فبعد الحکم المذکور امر اقرباء الزوج بکتابة الطلاق للکاتب والزوج ساکت وبعد الفراغ من الکتابة کتب الزوج اسمه تحت الصک بیده کما هو المرسوم في الحرف وما ارسل الی الزوجة وما امر لاحد ان یرسله الی الزوجة هل یقع الطلاق في هذه الصورة ام لا ؟

جواب: فی هذه الصورة ان الزوج ان اقرانه کتابه وانه راض به یقع الطلاق والا لا کما فی رد المحتار وکذا کل کتاب لم یکتبه بخطه ولم یمله بنفسه لایقع الطلاق ما لم یقر انه کتاب (۲) اهـ ملخصا عن التتارخانیه.فقط

دطلاقنامی دپاره صرف په کاغذ اخیستوباندی طلاق نه کیږی: **سوال**: (۱۸۸) زید دطلاقنامی دپاره صرف کاغذ (سټامپ) واخیستی خو پرسټامپ یی طلاق تحریر نه کی اونه یی په بل چا ولیکی اونه یی په خپله ژبه طلاق واچوی نوصرف په اسټامپ اخیستو باندی دزید ښځه طلاقه سوه اوکه نه؟ که طلاقه نه سوه نودرد المحتار دعبارت: ولو استکتب من آخر کتابا بطلاقها الخ څه مطلب دی؟

جواب: صرف په اسټامپ اخیستوباندی دده پرښځی طلاق واقع نه سو اوعبارت دشامی:

(۱) الکتابة علی نوعین مرسومة وغیر مرسومة ونعني بالمرسومة أن یکون مصدرا ومعنونا مثل ما یکتب إلی الغائب وغیر المرسومة أن لا یکون مصدرا ومعنونا وهو علی وجهین مستبینة وغیر مستبینة فالمستبینة ما یکتب علی الصحیفة والحائط والأرض علی وجه یمکن فهمه وقراءته ففي غیر المستبینة لا یقع الطلاق وإن نوی وإن کانت مستبینة لکنها غیر مرسومة إن نوی الطلاق یقع وإلا فلا الخ رجل أکره بالضرب والحبس علی أن یکتب طلاق امرأته الخ فکتب لا تطلق امرأته (عالمگیری مصری باب الطلاق بالکنایة ج۱ ص۴۰۳ – ۴۰۴، ط. ماجدیه ج۱ ص ۳۷۸). ظفیر

(۲) ردالمحتار کتاب الطلاق مطلب الطلاق بالکتابة ج۲ ص ۵۸۹ ، ط. س. ج۳ ص ۲۴۷. ظفیر

ولو استکتب من آخر کتابا بطلاقها الخ [1] نه صادقیدل په دی صورت کی ښکاره دی ځکه چی مضمون دطلاقنامی نه ده په خپله لیکلی دی اونه یې په بل: واذ لیس فلیس.

په دهوکه سره په ګوته لګولو او طلاقنامه تیارولو سره طلاق کیږی اوکه نه؟ سوال: (۱۸۹) زید امام دجومات دهندی دخاوند په مکر اوفریب سره ګوته ولګوله اوطلاقنامه یې جوړه کړه او بیایې دبل سړی سره دهندی نکاح وکړه نوپه دی صورت کی طلاق واقع سو اوکه نه؟ او دزید دجومات دامام څه حکم دی؟ دده امام جوړول اوپه ده پسی لمونځ کول جائز دی اوکه نه؟ او دنکاح ثانی چی کم شاهدان دی دهغوی څه حکم دی؟

جواب: په دی صورت کی طلاق واقع نه سو او دوهمه نکاح به صحیح نه وی: قال الله تعالٰی والمحصنٰت من النساء ای وحرمت علیکم ذات الازواج من النساء فی المدارك والخازن وغیرهما [2] اوپه شامی کی دی: وان لم یقر انه کتابه ولم تقم بینة لکنه وصف الأمر علی وجه لا تطلق قضاءً ولا دیانة وکذا کل کتاب لم یکتبه بخطه ولم یمله بنفسه لا یقع الطلاق ما لم یقر أنه کتابه ردالمحتار (۳) جلد۲ ص۴۲۹، آخر کتاب الطلاق قبیل باب الصریح. اوزید امام دجومات چی کم په دهوکه اوپه فریب کاغذ جوړ کی درواغجن او فاسق دی اوداسی امام معزول کول واجب دی اولمونځ په ده پسی مکروه تحریمی دی ځکه چی امام جوړول دده تعظیم دی اوتعظیم دفاسق حرام دی. قال فی الشامی: وأما الفاسق فقد عللوا کراهة تقدیمه بأنه لا یهتم لأمر دینه وبأن في تقدیمه للإمامة تعظیمه وقد وجب علیهم إهانته شرعا ولا یخفی أنه إذا کان أعلم من غیره لا تزول العلة الخ بل مشی في شرح المنیة علی أن کراهة تقدیمه کراهة تحریم الخ ص۳۷۲ شامی [4]. اوکه دنکاح ثانی شاهدانو ته داصل واقع علم وی نودوی هم عاصی اوفاسق دی توبه دی وکاږی [5]. فقط

پرساده کاغذ یی ګوته ځینی ولګوله بیا یی طلاقنامه تحریر کړه نوڅه حکم دی؟ سوال: (۱۹۰) دیو سړی ښځه دکوره وتښتیده ددی سړی مور اوپلار دده ښځه په زور دښځی په عدم موجودګی کی پریو کاغذ دده ښځه ګوته ولګوله اوپه عارضه نویس یی طلاقنامه

---

[1] پوره عبارت داسی دی: ولواستکتب من اٰخر کتاب بطلاقها اقراه علی الزوج فاخذه الزوج وختمه وعنونه وبعث بها الیها فاتاها وقع علیها ان اقر الزوج انه کتابه (ایضا ج۳ ص ۲۴۷ – ۲۴۲). ظفیر

[2] وګوره مدارك التزیل ج۱ ص۱۷۱. لباب التاویل للخازن ج۱ ص۳۳۲. ظفیر

[3] ردالمحتار کتاب الطلاق مطلب الطلاق بالکتابة ج۲ ص ۵۸۲، ط. س. ج۳ ص ۲۴۷ – ۲۴۲. ظفیر

[4] وګورئ ردالمحتار باب الامامة ج۱ ص ۵۲۳، ط. س. ج۳ ص ۵۲۰. ظفیر

[5] اما نکاح منکوحة الغیر الخ لم یقل احد بجوازه اصلا (ردالمحتار فصل فی المحرمات ج۲ ص ۴۸۲. ط. س. ج۳ ص ۱۳۲). ظفیر

ولیکله او دی سړی په ژبه لفظ دطلاقو ونه وایه نوآیا دده ښځه طلاقه سوه اوکه نه؟ او که دوی په خپل مینځ کی بیا رجوع کوی نوڅنګه به یی کوی؟
جواب: طلاق په لیکلو سره هم واقع کیږی اودښځی موجودیدل ضروری نه دی نوکه په دی طلاقنامه کی چی په عارضه نویس ولیکل سوه او خاوند ګوته باندی ولګوله (که په رضا وی اوکه په ناراضتیا (۱)) دری طلاق لیکل سوی وی نورجوع کول صحیح نه دی او بی حلالې به ددی ښځی سره نکاح کول صحیح نه وی اوکه یو یادوه طلاقه په دی لیکل سوی وی نورجوع کول په عده کی صحیح دی. (په زور سره په لیکلو سره طلاق نه واقع کیږی داسې معلومیږی چی دا جواب بل چا لیکلی دی اوغلطی ځینی سویده. ظفیر)
جعلی طلاقنامه په خپله په لیکلو سره هم طلاق واقع کیږی: **سوال**: (۱۹۱) یو سړی دڅه وجه څخه ددوهم واده کولو اراده وکړه چی کم ځای یی خوښ وو هلته یی پیغام ولیږی جواب ورکول سو چی مخکی ښځی ته طلاق ورکړه نوموړ واده ته تیار یو مخکی ښځه تابعداره وه دې ته طلاق ورکول سخت وو نو ددی وجه څخه یی بهانه وکړه په ښځی او خاوند کی مشوره وسوه چی خلګوته دښوولو دپاره به څو ورځی جلا سو او بیابه دی بیرته راولم نو استامپ واخیستل سو شاهد هم جعلی جوړسو نو دجعلی استامپ ځای دطلاق وښووی او واده وسو آیا مخکی ښځه طلاقه سوه اوکه نه؟
جواب: طلاق په خپله یاپه بل لیکلو سره هم واقع کیږی اوپه طلاق کی جد او هزل برابر دی (۲) یعنی جعلی اوپه ټوکه هم واقع کیږی که طلاق واچول سی نوکیږی یابل ته ووایی چی طلاق ولیکه نوطلاق واقع کیږی په شامی کی دی: ولو قال للکاتب اکتب طلاق امراتی کان اقرارا بالطلاق وان لم یکتب الخ (۳) ددی عبارت حاصل دادی چی که چا لیکلو والا ته وویل زما ښځی ته طلاقنامه ولیکه نو دا اقرار دطلاق دی که څه هم دی یې ونه لیکی غرض داچی په دومره ویلو سره هم طلاق کیږی.
مخکی یی دستخط ځینی واخیستی او وروسته یی ورته واورولہ نوطلاق واقع سو اوکه نه؟
سوال: (۱۹۲) دعبدالغنی مدعی علیه بیان دی چی دا صلحنامه دفریقینو په مینځ کی زما دطرفه دطلاق اقرار دی، دا دبی بی مریمی چې مدعیه ده وکیلانو په خپل طور بغیر

(۱) په زور لیکلو سره طلاق نه واقع کیږی وفی البحر ان المراد الإکراه علی التلفظ بالطلاق فلو أکره علی أن یکتب طلاق امرأته فکتب لا تطلق لأن الکتابة أقیمت مقام العبارة باعتبار الحاجة ولا حاجة هنا کذا في الخانیة (ردالمحتار کتاب الطلاق ج۲ ص ۵۸۹. ط. س. ج۳ ص ۲۳۶). ظفیر
(۲) ثلاث جدهن جد وهزلهن جد النکاح والطلاق والعتاق (مشکوٰة باب الخلع والطلاق ص ۲۸۲)، ظفیر
(۳) ردالمحتار کتاب الطلاق ج۲ ص ۵۸۹ ، ط. س. ج۳ ص ۲۴۶. ظفیر

زما داجازی څخه زما دطرفه لیکلی ده ددی اقرارنامی ماته خبر هم نه ؤ چی داقرارنامی څه مضمون دی اونه یې ماته اوروليی وه بغیر داوروليو یې زما څخه دستخط واخیستی وروسته یې ماته واوروله خو ما ددستخط کولو په وخت لفظ دطلاق نه دی ویلی نقل داقرارنامې درولیږل سو، په دی صورت کی پرمریم بی بی طلاق واقع سو اوکه نه؟

جواب: داصورت دخلع دی چی ښځه مهر معاف کی اوخاوند طلاق ورکی اوپه درمختار او شامی کی دی چی په کتابت سره هم طلاق واقع کیږی نوکه دخاوند په اجازه او رضا مندی سره طلاقنامه ولیکل سی اودی پردی دستخط وکړی که څه هم دستخط مخکی سوی وی او مضمون وروسته اورول سوی وی او ده دمضمون څخه انکار ونه کی که انکار یی نه وی کړی اوخپله ناراضتیا یی نه وی ښکاره کړی نودا هم اقرار دطلاقو دی او طلاق واقع سو په ژبه دلفظ دطلاقو دویلو ضرورت نسته پخپله لیکلو اوپه بل لیکلو اوپه لیکل سوی او تسلیمولو سره اودستخط کولو سره هم طلاق واقع کیږی، وتمام تحقیقه فی الشامی (۱) (خوکه مضمون معلوم نه وو او ددی په اوریدو سره یی ددی سره موافقت ښکاره نه کی نوطلاق واقع نه سو، (۲) ظفیر)

<u>**په زوره په طلاقنامه لیکلو سره طلاق واقع سو اوکه نه؟ اوچی چا باندی لیکلی دی هغه دجبر څخه انکارکوی**</u>: **سوال**: (۱۹۳) زید دخپلی ښځی هندی په نوم یوطلاق نامه ولیکله چی زه په خپلی رضاسره خپلی ښځی ته دری طلاقه ورکوم او ددی دښځی کیدو څخه انکار کوم اوس دزید بیان دی چی دهندې ورور زه په کورکی بند کړم اوپه ما یی دا ولیکل او زما ښځی ته یی طلاق واچوی دهندی وارثان وایی چی موږ جبر نه دی کړی، نو دزید دعوٰی صحیح ده اوکه نه؟ اوچی په جبر طلاقنامه لیکل سوی وی نوپه هندی به طلاق واقع کیږی اوکه نه؟

جواب: دجبر طلاق په نزد داحنافو واقع دی لکه چی په درمختار کی دی: ویقع طلاق کل زوج بالغ عاقل الخ ولو عبدا اومکرها فان طلاقه صحیح لا اقراره (۳) بالطلاق الخ. او شامی نقل کړیدی چی په صورت داکراه کی چی کم طلاق واقع کیږی نومراد ددی څخه زبانی طلاق ورکول یاپه بل ورکول دی نوکه دخاوند څخه جبراً طلاق ولیکل سی نودا

---

(۱) وکذا کل کتاب لم یکتبه بخطه ولم یمله بنفسه لایقع الطلاق ما لم یقر انه کتابه (ردالمحتار کتاب الطلاق ج۲ ص۸۸۹، ط. س. ج۳ ص۲۴) ولو قال للکاتب اکتب طلاق امراتی کان اقرارا بالطلاق وان لم یکتب (ایضا ط. س. ج۳ ص۲۴۲). ظفیر

(۲) فلو اکره ان یکتب طلاق امراته فکتب لاتطلق (ایضا، ط. س. ج۳ ص ۲۳۶). ظفیر

(۳) وگوره الدرالمختار علی هامش ردالمحتار کتاب الطلاق ج۲ ص ۵۷۹ ، ط. س. ج۳ ص ۲۳۵. ظفیر

طلاق به واقع نه وی. وفی البحر أن المراد الإکراه علی التلفظ بالطلاق فلو أکره علی أن یکتب طلاق امرأته فکتب لا تطلق لأن الکتابة أقیمت مقام العبارة باعتبار الحاجة ولا حاجة هنا کذا في الخانیة انتهٰی (۱) خوچی کله په دی کی اختلاف دی چی طلاق بالجبر لیکل سویدی اوکه نه چی خاوند دعوٰی داکراه کوی اوهنده او ددی وارثان ددی څخه منکردی نوخاوندلره دوه عادل شاهدان ثابتول ضروری دی دخپلی دعوٰی، بغیر دثابتولو ددوو شاهدانو سره (۲) به دخاوند دقول اعتبار نه وی اوحکم به وقوع ددرو طلاقو وسی اوپه حرف (تاء) سره دطلاقو لیکل مضرنه دی طلاق به بیا هم واقع وی اوپه درمختار کی دی: ویدخل نحو طلاغ وتلاغ وطلاق وتلاك الخ وفی الشامی قال فی البحر ومنه ای من الصریح الالفاظ المصحفة وهی خمسة فزاد علی ماهنا تلاق الخ (۳).

صرف دګوتی په لګولو سره طلاق نه کیږی: **سوال**: (۱۹۴) پنځه کاله وسوه چی دسعدالله نکاح درحمون نومي سړی دلور سره سویده، دوه کاله وسوه چی دی خلګو سعدالله ووهی اوپر یوساده کاغذ یی ګوته ځینی ولګوله اوپه ژبه سعدالله هیڅ ونه ویل، نوپه مسئوله صورت کی شرعا طلاق واقع دی اوکه نه؟ دانجلی ورونه دانه را لیږی او وایی چی تا طلاق ورکړیدی نوموږ به دانجلی دوهمه نکاح کوو؟

جواب: په دی صورت کی دسعد الله پرښځی طلاق نه دی واقع پرساده کاغذ په زوره په ګوته لګولو سره او وروسته په طلاقنامه لیکلو سره شرعًا طلاق نه واقع کیږی دسعد الله ښځه دده په نکاح کی ده دوهمه نکاح درحمون دلور په دی صورت کی شرعا صحیح نه ده دانجلی وارثانو لره په کاردی چی دا ولیږی دسعدالله کره، په شامی کی دی: وان لم یقر انه کتابه الخ لا تطلق قضاءًا ولا دیانةً وکذا کل کتاب لم یکتبه بخطه ولم یمله بنفسه لا یقع الطلاق ما لم یقرانه کتاب الخ (۴).

طلاقنامه یی ولیکله او بیایی وسوځله په دی سره هم طلاق کیږی: **سوال**: (۱۹۵) هندی ته ددی خاوند زید طلاق ورکی او طلاقنامه مکمله سوه چی کله محرر دوهم استامپ په باره دمعافی دمهر کي لیکل شروع کړل بلکی ختمولو ته نژدی وو چی ناخاپه یی له څه

---

(۱) ردالمحتار کتاب الطلاق مطلب في المسائل التي تصح مع الاکراه ج۲ ص۵۷۹، ط. س. ج۳ ص۲۳۲). ظفیر

(۲) ونصابها لغیرها من الحقوق کنکاح وطلاق الخ رجلان اورجل وامراتان (درمختار) قوله لغیرها ای لغیر الحدود والقصاص الخ (ردالمحتار کتاب الشهادات ج۴ ص۵۱۵، ط. س. ج۵ ص ۴۶۵). ظفیر

(۳) ردالمحتار باب الصریح ج۲ ص ۵۹۱، ط. س. ج۳ ص ۲۴۹. ظفیر

(۴) ولو قال للکاتب اکتب طلاق امراتی کان اقرارا بالطلاق وان لم یکتب (ردالمحتار ج۲ ص۵۸۹، ط. س. ج۳ ص۲۴۶) کتب الطلاق ان مستبینا علی نحو لوح وقع ان نوی وقیل مطلقا (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار کتاب الطلاق ج۲ ص۵۸۹، ط. س. ج۳ ص۲۴۶). ظفیر

ترغیب یا منت څخه دواړه کاغذونه ده څیري کړل اکثره هوښیاران دی واقع ته طلاق دمطلق وایی نوطلاق واقع سو اوکه نه؟

په هندو منشي باندي په طلاقنامه لیکلو سره هم طلاق کیږي: **سوال**: (۱۹۶) یو سړی خپلی ښځی ته طلاق ورکی او طلاقنامه یی ولیکله خومنشی اوشاهد هندوان دی او مذکوره سړی وایی چی ما دخاندان والا په لمسون طلاقنامه ولیکله کنې نو دطلاق ورکولو زما هیڅ نیت نه وو نوشرعا څه حکم دی؟

جواب: چی خاوند طلاقنامه باندی ولیکله اوده ته اقرار دی که څه هم منشی اوشاهد هندوان دی اوکه څه هم دچاپه لمسون یې طلاقنامه لیکلی وی نو دده پر ښځی موافق دشرط دطلاقنامې طلاق وسو (۱) نوکه دری طلاق یی نه وی لیکلی بلکی دوه یایوصریح طلاق یی لیکلی وی نوپه دی صورت کی خاوند په عده کی دننه بی له نکاح دیته رجوع کولی سی او وروسته دعدی څخه بی حلالی نکاح کولی سی.

دخاوند دطرفه څخه دخط پرځای طلاقنامه راسی نو په دی سره به طلاقه سی اوکه نه؟

سوال: (۱۹۷) یو سړی خپله ښځه پرینښووله اودی په ملازمت ولاړی اوه کاله وسوه په دی دوران کی به یی کله کله کاغذ رالیږی فی الحاله دده دطرفه دده ښځی ته طلاقنامه موصول سویده نودا طلاق نامه معتبره ده اودده ښځه طلاقه سوه اوکه نه؟

جواب: په داسی معاملاتو کی دخط اعتبار سته نوکه دقرائنو څخه معلومه وی چی دا خط دخاوند دی نوحکم دطلاق دی وسی (۲) بیا که خاوند راغی اوانکار یی وکی چی دا خط زمانه دی اودوه شاهدان موجود نه وه نوطلاق به ثابت نه وی.

چی بل سړی دچا دخاوند دطرف څخه جعلي طلاقنامه ولیکی جعلی دستخط وکړی نوطلاق به نه وی: **سوال**: (۱۹۸) یو سړی دبکردخط موافق خط یی جوړکی اوطلاقنامه یی ولیکله اوپردی یی جعلی دستخط دبکر وکی اوښځی ته یی ورکی بکر ددی تحریر څخه انکار کوی چی دازما تحریر نه دی او دښځی سره هم ماسوا ددی تحریرڅخه بل څه شاهد نسته نودا طلاق کیدی سی اوکه نه؟

جواب: داطلاق شرعا ثابت اوواقع نه دی (۳).

---

(۱) ولو استکتب من اخر کتابا بطلاقها او قراه علی الزوج فاخذه الزوج وختمه وعنونه وبعث به الیها فاتاها وقع ان اقر الزوج انه کتابه الخ ولو قال للکاتب اکتب طلاق امراتی کان اقرارا بالطلاق وان لم یکتب (ردالمحتار کتاب الطلاق ج۲ ص۵۸۹، ط. س. ج۳۳ ص۲۴۲). ظفیر

(۲) کتب الطلاق ان مستبینا الخ وقع ان نوی وقیل مطلقا (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار کتاب الطلاق ج۲ ص۵۸۹، ط. س. ج۳ ص۲۴۲). ظفیر

(۳) په دی صورت کی خاوند نه په ژبه طلاق ورکی اونه ده ولیکل اونه یې دلیکلو حکم وکی او ددی څخه بغیر =

پرساده کاغذ یی دخاوند ځخه دستخط واخیستی اودده دعلم څخه بغیر دده دښځی دپاره یی طلاقنامه ولیکله نوڅه حکم دی؟ **سوال**: (۱۹۹) عمر اوبکر دزید څخه پریوصفا ساده کاغذ باندی دستخط واخیستی او وروسته دوی دواړو پرساده کاغذ دیوسړی په ذریعه طلاقنامه ولیکله چی دهغه علم زید ته نسته نودزید ښځه طلاقه سوه اوکه نه؟

جواب: په دی صورت کی دزید ښځه طلاقه نه ده، کما هو ظاهر.

طلاق یی ولیکی اووی لیږی خاوند دستخط وکی نوطلاق واقع سو اوکه نه؟ **سوال**: (۲۰۰) زیدته په جرم دقتل۱۴ څوارلس کاله سزاوسوه دزید ښځه څوانه وه نودزید نژدی قریبانو یوه طلاقنامه ولیکله او قیدخانی ته یی ولیږله زید دستخط باندی وکی، نوطلاق واقع سو اوکه نه؟

جواب: چی زید دطلاقنامی مضمون ووایه یاورته واورول سو ده دستخط باندی وکی او ده طلاقنامه ومنله نو دزید ښځه طلاقه سوه ځکه چی په خپله په لیکلو سره یا پر لیکل سوی په طریقه دتصدیق اودمنلو په دستخط کولو سره هم طلاق واقع کیږی کذا فی الشامی (۱).

طلاقنامه یی ولیکله اودځان سره یی وساتله اوښځی ته یی ونه ښووی نوطلاق واقع سو اوکه نه اوکم طلاق واقع سو؟ **سوال**: (۲۰۱) یوسړی دغصی په حالت کی خپلی ښځی ته طلاقنامه ولیکله اودخپل ځان سره یی کښې ښووله اوښځی ته یی هیڅ ونه ویل طلاقنامه ددی سره پیوسته ده آیا په طلاقنامه لیکلو سره طلاق واقع سو اوکه نه؟ نوکه طلاق واقع سو نوکم قسم طلاق وسو؟

جواب: په شامی (۲) کی دی چی خاوند کاتب ته وویل: اکتب طلاق امرأتی (۳) یعنی زما ښځی ته طلاق ولیکه نوپه دی ویلو سره دده پرښځه طلاق واقع کیږی دی یی ولیکی او که نه، نوچی کله صرف په دی ویلو سره طلاق واقع کیږی نوچی کله خاوند په منشی طلاق نامه ولیکله اوده ته یی وویل چی زما ښځی ته طلاق ولیکه نو دده ښځه طلاقه سوه اوپه وجه دبعضو الفاظو دطلاقنامی داطلاق بائن سو نو شرعی حکم په دی باره کی

طلاق نه کیږی. وکذا کل کتاب لم یکتبه بخطه ولم یمله بنفسه لایقع الطلاق ما لم یقر انه کتابه (ردالمحتار کتاب الطلاق ج۲ ص ۵۸۹ ، ط. س. ج۳ ص ۲۴۷). ظفیر

(۱) وان لم یقر انه کتاب ولم تقم بینة لکنه وصف الامر علی وجه لاتطلق قضاء ولا دیانة (ردالمحتار کتاب الطلاق ج۲ ص ۵۸۹ ، ط. س. ج۳ ص ۲۴۷). ظفیر

(۲) واستکتب من اٰخر کتاب بطلاقها او قراءة علی الزوج فاخذه الزوج وختمه وعنونه الخ وقع ان اقر الزوج انه کتابه (ایضا ط. س. ج۳ ص۲۴۲). ظفیر

(۳) وګوره ردالمحتار باب الطلاق ج۲ ص ۵۸۹ ، ط. س. ج۳ ص ۲۴۲. ظفیر

دا دی چی ددی ښځی سره داخاوند نوی نکاح کولی سی اودا ښځه کولی سی. (۱)

مخالف طلاقنامه ولیکله اوخاوند باندی پوه نه سو او دستخط یی وکی نوڅه حکم دی؟ سوال:
(۲۰۲) سید وهاب شاه نه په خپله ژبه طلاق ښځی ته ورکړیدی اونه یی منشی په غرض دطلاقنامه لیکلو رابللی دی خودومره وسوه چی منشی ته یو بل مخالف سړی وویل او طلاقنامه یی ولیکله اوسید وهاب شاه ته یی واوروله خوسید وهاب شاه دطلاقنامی په مطلب نه وو پوه اوپه حالت دنه پوهیدو پرطلاق ثلاثه باندی یی دستخط وکی نوطلاق واقع سو اوکه نه؟

جواب: دخاوند دقول موافق په دی صورت کی به طلاق واقع نه وی. کما تفهم من عبارة الشامی ولو استکتب من آخر کتاب بطلاقها وقراه علی الزوج فاخذ الزوج وختمه وعنونه وبعث به الیها فاتاها وقع ان قر الزوج انه کتابه الخ. (۲) فقط

دکتاب القاضی الی القاضی شرط په طلاق بالکتابت کی معتبر دی اوکه نه؟ سوال: (۲۰۳)
داعبارت چی کم په کتاب القاضی الی القاضی کی درج دی اوپه هدایه دریم جلدیوسفی کی مرقوم دی هغه دادی: ولا یقبل الکتاب الا بشهادة رجلین او رجل وامراتین لان الکتاب یشبه الکتاب الخ وفی ردالمحتار لایعمل بالخط الخ. دامذکوره عبارت په طلاق بالکتابت کی جاری کیدی سی اوکه نه؟ وقوع دطلاق پربناء ده اوکه نه دافقط بین القاضین مخصوص دی؟

جواب: په شامی کتاب الطلاق کي دی: ولو قال للکاتب اکتب طلاق امراتی کان اقراراً بالطلاق وان لم یکتب ولو استکتب من آخر کتاب بطلاقها (ای ان قال) فاتاها وقع ان اقر الزوج انه کتابه الخ وان لم یقر انه کتابه ولم تقم بینة لکنه وصف الامر علی وجه لا تطلق قضاءً ولادیانةً الخ (۳) ص۴۱۹ جلد ثانی. ددی څخه معلومه سوه چی دطلاق بالکتابة اعتبار هلته دی چی خاوند دخط اقرار وکی اویا ښځه شاهدان قائم کړی چی دا خط خاوند لیکلی یایی په بل لیکلی دی اوبی ددی دوو خبرو څخه به طلاق واقع نه وی.

په زبردستی سره پر طلاقنامه باندی په دستخط اخیستو سره طلاق نه کیږی: سوال: (۲۰۴)
دزیدڅخه هندی اوددی وارثانو په وهلوټکولوسره په جبرپرطلاقنامه دستخط واخیستی اوهنده یی یوبل سړی ته په عقد کړه په دی صورت کی طلاق واقع دی اوکه نه؟ اودوهمه

---

(۱) وینکح مبانته بمادون الثلاث في العدة وبعدها بالاجماع (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب الرجعة ج۲ ص۷۳۸، ط. س. ج۳ ص۴۰۹). ظفیر
(۲) ردالمحتار کتاب الطلاق ج۲ ص ۵۸۹، ط. س. ج۳ ص ۲۴۲. ظفیر
(۳) وګوره ردالمحتار کتاب الطلاق مطلب الطلاق بالکتاب ج۲ ص ۵۸۹، ط. س. ج۳ ص ۲۴۲. ظفیر

نکاح دهندی صحیح ده او که نه؟

جواب: په جبر پرطلاقنامه په دستخط کولو سره په داسی حال کی چی زید په خولی طلاق نه وی ورکړی او نه یی لیکلی وی طلاق واقع نه سو اودهندی دوهمه نکاح صحیح نه ده (۱). فقط

منشی ته یی دطلاقنامی وویل اوځه تفصیل یی ورته بیان نه کی نوځه حکم دی؟ سوال:

(**۲۰۵**) یو سړی په غصه کی منشی ته دخپلی ښځی دطلاقو دلیکلو په باره کی وویل، ده په طلاقنامه کی دری طلاقه ولیکل دی سړی په ژبه څه نه دی ویلی نواوس دی خپلی ښځی ته رجوع کولی سی او که نه؟

جواب: که دی منشی داتحریر دطلاقو خاوندته اورولی وی اوخاوندپه خپله مرضی پردی باندی ګوته لګولی وی نوپه دی صورت کی دده پرښځی باندی دری طلاقه واقع سوه په دی صورت کی رجوع صحیح نه ده اوبی له حلالې ددی سره نکاح هم نسی کولی او که دی منشی داتحریر خاوند ته نه وی اورولی اونه یی ګوته ولګوله نوبیا طلاق واقع نه سو او نکاح قائمه ده (۲).

خاونددنصیحت خط ورته ولیکی اوښځی عمل ونه کی نوپه دی سره طلاق واقع نه سو: سوال:

(**۲۰۲**) زید خاوند دهندی خپلی ښځی ته یوتحریر ددی مضمون ولیکی چی تاته مادکمو خلګو دناستی پاستی څخه دځان ساتلو تاکید کړیدی نودهغوی څخه ځان وساته دارنګه دفلانی قریب مخ ته مه راځه او دفلانی قریب کره مه ځه کنې نو په دین اودنیا کی به زما اوستا څه روزګار نه وی خوښځی دزید دمذکوره شرطونو هیڅ پایبندی ونه کړه نوپه دی صورت کی دښځی اودخاوند تعلق قائم پاته دی او که نه؟

جواب: په دی صورت کی دزید پرښځی طلاق نه دی واقع اونکاح قائمه ده (۳).

خط یی ولیکی چی ته می پریښوولی په پوښتنه کولو باندی خاوند په قسم سره انکارکوی څه حکم دی؟ سوال: (**۲۰۷**) زید خپلی ښځی هندی ته ددی مضمون خط ولیکی چی ماته پرېښی یی ددی خط په رسیدو دابنځه طلاقه سوه او که نه؟ خودخط په رسیدو چی کله

(۱) وکذا کل کتاب لم یکتبه بخطه ولم یمله بنفسه لایقع الطلاق ما لم یقر انه کتابه (ردالمحتار کتاب الطلاق ج۲ ص۵۷۹، ط. س. ج۳ ص۲۴۷) فی البحر ان المراد الاکراه علی التلفظ بالطلاق فلو اکره علی ان یکتب طلاق امراته فکتب لاتطلق (ایضا ج۲ ص ۵۷۹ ، ط. س. ج۳ ص ۲۳۲). ظفیر

(۲) ولو استکتب من اٰخر کتاب بطلاقها او قرأه علی الزوج وختمه وعنونه الخ وقع ان اقر الزوج انه کتابه الخ وکذا کل کتاب لم یکتبه بخطه ولا یمله بنفسه لایقع الطلاق ما لم یقر انه کتابه (ردالمحتار کتاب الطلاق ج۲ ص ۵۸۹ ، ط. س. ج۳ ص ۲۴۲). ظفیر

(۳) په دی نصیحتونو دخاوند کی یوه جمله هم داسی نسته چی په هغی سره طلاق واقع کیدی سی. ظفیر

دزید څخه پوښتنه وسوه چې تاځپلې ښځې ته ددې مضمون خط لیږلی دی؟ نوزید په قسم په جومات کې بیان وکې چې ماهیڅ خط نه دی لیکلی اونه مې هیڅکله هندې ته دطلاق ورکولو خیال کړیدی ایا دزید دا انکار به معتبر اومسموع وی اوکه نه؟

جواب: چې زید ددې تحریر څخه انکار کوی اودوه عادلان شاهدان دزید پرطلاق ورکولو یاپه خط لیکلو نسته نوانکار دزید معتبردی اوطلاق به ثابت نه وی (۱) او ددې څخه علاوه په دې خط کې صریح لفظ دطلاقوهم نسته بلکه دکنایه لفظ دی چې پکښې دنیت ضرورت دی یعنی که دخاوند نیت په دې لفظ دطلاقو وی نوطلاق به واقع کیږی کنې نو نه نو چې کله خاوند ددې الفاظو دویلو او لیکلو څخه منکر دی نوپه هیڅ طریقې سره په دې صورت کې طلاق نه دی واقع (۲). فقط

طلاقنامه یې ولیکله په بل او ګوته یې باندې ولګوله او ددوو شاهدانو شاهدې یې باندې ادا کړه نوکم طلاق واقع سو؟ **سوال**: (۲۰۸) هندې خپل خاوند ته وویل چې یاخو خپل جائیداد زما په نوم کړه کنې نو ماته طلاق راکړه خاوند خپل جائیداد ددې په نوم کول نه غوښتل دهندې په خواهش یې اسټامپ واخیستې اوپه منشي یې طلاقنامه ولیکله او دوو شاهدانو پر دې شاهدې ادا کړه اوددې مضمون تصدیق یې ادا کې پرطلاقنامه ګوته ولګیده بیاپه دوی کې مصالحت وسو اوس خاوند وایي چې ماپه ژبه طلاق نه دی ویلی صرف تصدیق مې کړیدی اوطلاق نامه مې په بل لیکلې ده، نو په مذکوره صورت کې طلاق واقع سو اوکه نه؟ اوکه وسو نوکم؟ رجعي، بائن اوکه مغلظ؟

جواب: چې کله منشي ته دطلاق نامې وویل سوه اوبیا ده دمضمون تصدیق اوګوته یې ولګوله نو موافق دتصریح دفقهاؤ طلاق واقع سو اوچې څومره طلاق په دې کاغذ کې لیکل سوی وی هم هغه واقع سو که درې طلاقه لیکل سوی وی نودرې طلاقه واقع سوه اومغلظه بائنه سوه: واذا قال للکاتب اکتب طلاق امراتی کان اقرارا بالطلاق وان لم یکتب الخ (۳). فقط

په دهوکه سره په ګوته لګولو سره یا دستخط کولو سره طلاق نه کیږي: **سوال**: (۲۰۹) یوې ښځې دچا په لمسون دخپل خاوند څخه فارغ خطې یعنې طلاقنامه په طور دشاهدې

---

(۱) وان لم یقر انه کتابه ولم تقم بینة لکنه وصف الامر علی وجه لاتطلق قضاء ولادیانة (ردالمحتار کتاب الطلاق ج۲ ص ۵۸۹ ، ط. س. ج۳ ص ۲۴۷). ظفیر

(۲) ثم فرق بینه وبین سرحتك فان سرحتك کنایة (ردالمحتار باب الکنایات ج۲ ص ۲۳۸ ، ط. س. ج۳ ص ۲۹۹) ففی حالة الرضاء تتوقف الاقسام الثلاثة علی نیة الخ وفی الغضب توقف الاولان فی مذاکرة الطلاق یتوقف الاول فقط (الدر المختار علی هامش ردالمحتار کتاب باب الکنایات ج۲ ص۲۴۰ ، ط. س. ج۳ ص ۳۰۱). ظفیر

(۳) ردالمحتار کتاب الطلاق مطلب الطلاق بالکنایة ج۲ ص ۵۸۹ ، ط. س. ج۳ ص ۲۴۲. ظفیر

ولیکله ځکه چي دی بل سړی ته څه قرض ورکړی وو ده وویل چي ته موږ ته کاغذ ولیکه نوپه دهوکه یې طلاقنامه ولیکله دستاویز (سند) یې ونه لیکله نودا ښځه طلاقه سوه اوکه نه؟

جواب: خاوند ته که خبر نه وو چي په دی کاغذ کی یې څه لیکلي دي اویایې دهوکه وکړه او دخاوند څخه یې دستخط یاګوته ولګوله نو په دی سره طلاق نه کیږي نودافارغ خطي اوطلاق نامه معتبره نه ده [1]. فقط

یوه میاشت وروسته به دري طلاقه ورکړم په دی جملې لیکلو سره طلاق کیږي: **سوال**: (۲۱۰)

یوسړی دخپل اخنبي په نوم خط ولیکی په دی کی یې لیکلي وه چي تریوی میاشتی پوري زما انتظار وکي وروسته دیوی میاشتي څخه زما ښځي ته دري طلاقه، نوپه دی الفاظو ویلو سره طلاق واقع سو اوکه نه؟ اوپه خط کی دخاوند دستخط نسته.

جواب: په دی الفاظو سره چي یوه میاشت زما نور انتظار وکي دوخت دتحریر څخه یوه میاشت وروسته [2] ددی لیکوونکی پرښځي دري طلاقه واقع سوه چي لیکوونکی ددی خاوند وی نوم لیکل اونه لیکل برابردی [3] (یعني چي خاوند اقرار وکړی یادوه عادل شاهدان شاهدی ادا کړي چي خاوند زموږ په مخکي لیکلي دی نوبیابه خط معتبر وی بغیر ددی څخه به پردی دطلاقو حکم نه کیږي).

ښځي وویل طلاق راکه خاوند ولیکل ټولو ته ووایه چي طلاق یې راکي نوڅه حکم دی؟

سوال: (۲۱۱) یوی ښځي خپل خاوند ته وویل چي ماته طلاق راکړه زما په دی نکاح کی بدنامی ده زما قریبان ناراضه دي، ددی په جواب کی خاوند یوه رقعه ولیکله چي داستا بدنامی به ختمه سي ته ټولو ته ووایه چي طلاق یې راکي ددی څخه مقصود په ښکاره طلاق اچول نه وو نو اوس په دی صورت کی طلاق واقع سو اوکه نه؟

---

(۱) ولو استكتب من آخر كتابا بطلاقها وقرأه على الزوج فأخذه الزوج وختمه وعنونه الخ وقع إن أقر الزوج أنه كتابه وإن لم يقر أنه كتابه ولم يقم بينة لكنه وصف الأمر على وجهه لا تطلق قضاء ولا ديانة وكذا كل كتاب لم يكتبه بخطه ولم يمله بنفسه لا يقع الطلاق ما لم يقر أنه كتابه (ردالمحتار كتاب الطلاق ج۲ ص ۵۸۹ ، ط. س. ج۳ ص ۲۴۲). ظفير

(۲) وبقوله انت طالق غدا اوفى غد يقع عند طلوع الصبح الخ ومثله انت طالق شعبان اوفى شعبان (درمختار) فاذا لم تكن له نية طلقت حين تغيب الشمس من اٰخر يوم من رجب الخ (ردالمحتار باب الصريح ج۲ ص ۲۰۲ ، ط. س. ج۳ ص ۲۲۵). ظفير

(۳) ولو كتب على وجه الرسالة والخطاب كان يكتب يا فلانة اذا اتاك كتابى هذا فانت طالق طلقت بوصول الكتاب (درمختار) ولوقال للكاتب اكتب طلاق امراتى كان اقرارا بالطلاق وان لم يكتب ولو استكتب من اٰخر كتابا بطلاقها وقراه على الزوج وختمه الخ وقع ان اقر الزوج انه كتابه (ردالمحتار كتاب الطلاق ج۲ ص ۵۸۹ ، ط. س. ج۳ ص ۲۴۲). ظفير

جواب: که واقعي خاوند طلاق نه وي ورکړي اوښځي ته يي ويلي وي چي ټولو ته ووايه چي طلاق يي راکړيدی. نوپه دی لفظ طلاق واقع نه سو [۱] اوکه غرض په دی لفظ سره طلاق ورکول وو نوطلاق واقع سو [۲] نوددی سړي څخه دی پوښتنه وسي چي دده څه غرض وو.

<u>دریم ګړي طلاقنامه ولیکله او دخاوند څخه یی ګوته ولګوله څه حکم دی؟</u> سوال: (۲۱۲)

ديوسړي دنكاح اته كاله وسوه چي سويده ديوی انجلی سره چي دهغې عمر اوس دوه ويشت كاله دی دانجلي دعمه خاوند ددی څخه دناجائز فائده اخيستو په غرض دخاوند څخه يي طلاق وغوښتي دطلاق وركولو څخه يې انكار وكی ددی انجلي دترور خاوند په عدالت كي استغاثه دائره كړه څو كسانو فريقين را ووبلل او دصلح كوشش يي وكی خو په دی خلګو ماسوا ددی څخه بل جواب ورنه كي چي دانجلي خاوند دی انجلي ته طلاق وركی نوموړ به صلح نامه داخله كړو دريم ګړو منشي را وبولي اواستامپ يي ددواړو په نوم سره واخيستي اوپه منشي يي طلاق نامه وليكله معلومه نه ده چي ددی څه مضمون دی دانجلي خاوند ناست وو او ژړل يي منشي ولاړ سو اودده په ګوته يي سياهي ولګوله او ګوته يي ځيني ولګوله ده دطلاق وغيره هيڅ يو لفظ تراوسه دخولي څخه نه دی ايستلي نودا طلاق شرعا وسو اوكه نه؟

جواب: په بل ليكلو اوپه خپله ليكلو سره هم طلاق واقع كيږي خودا ضروري ده چي خاوند ته معلومه وي چي په دی كاغذ كي طلاق ليكل سوی دی او بيا ده پردی ګوته لګولی وي نوطلاق واقع سو اوكه ده ته دمضمون دكاغذ هيڅ اطلاع نسته اودطلاق حال نه دی معلوم نوپه دستخط اوګوتي لګولو سره طلاق نه واقع كيږي [۳].

<u>په بل یی طلاقنامه ولیکله اوښځی ته یی ونه لیږله نو طلاق واقع سو او که نه؟</u> سوال: (۲۱۳)

---

(۱) واما ما في الخانية لو اكره على أن يقر بالطلاق فأقر لا يقع كما لو أقره بالطلاق هازلا أو كاذبا فقال في البحر أن مراده لعدم الوقوع في المشبه به عدمه ديانة ثم نقل عن البزازية والقنية لو أراد به الخبر عن الماضي كذبا لا يقع ديانة وإن أشهد قبل ذلك لا يقع قضاء أيضا اهـ (ردالمحتاركتاب الطلاق ج۲ ص۵۸۲، ط.س. ج۳ ص۲۳۸).

(۲) ويقع طلاق كل زوج بالغ عاقل ولو عبدا او مكرها الخ اوهازلا (الدرالمختار على هامش ردالمحتار كتاب الطلاق ج۲ ص۵۷۹ – ۵۸۲، ط. س. ج۳ ص ۲۳۵). ظفير

(۳) لو استكتب من آخر كتابا بطلاقها وقرأه على الزوج فأخذه الزوج وختمه وعنونه وبعث به اليها فاتاها وقع إن أقر الزوج أنه كتابه الخ وكذاكل كتاب لم يكتبه بخطه ولم يمله بنفسه لا يقع الطلاق ما لم يقرأنه كتابه (رد المحتار كتاب الطلاق ج۲ ص۵۸۹ ، ط. س. ج۳ ص۲۴۲) ددی سره سره په شامي كي داهم دی: وفي البحران مراد الاكراه على التلفظ بالطلاق فلو اكره على ان يكتب طلاق امرأته فكتب لاتطلق لان الكتابة اقيمت مقام العبارة باعتبار الحاجة ولاحاجة هنا كذا في الخانية (ردالمحتار كتاب الطلاق ج۲ ص۵۷۹، ط. س. ج۳ ص ۲۳۲). ظ

زید دخپلی لور هندې چی دیوولسو کالو ده نکاح یی دبکر دزوی خالد چی په عمر څوارلس کاله دی ددی سره وکړه اومهر زر روپی چی دهغه تفصیل دادی چی ثلث معجل اوثلثان موجل ددی څخه علاوه دپنځو سوو روپو کالی، هنده دولس نیم کاله دخسرګنۍ کره دخپل خاوند خالد سره اوسیدله وروسته بیا زید دهندی پلار مړسو اوس خالد چی دهغه عمر اوه ویشت کاله دی خپلی ښځی هندی ته یی په استامپ طلاق نامه تحریر کړه اودڅو سړیانو په لاس یی خپل پلار بکر ته ولیږله چی دی په دی شاهدی اداکړی خوبکر داکاغذ دطلاقنامی دخپل ځان سره وساتی اوبیرته یی وروایس نه کړه نو ددی تحریر څخه وروسته بکر تریو نیم کاله پوری هنده په خپل کور کی وساتله اوس هنده دشپږو میاشتو راهیسی دخپلی مور آمنی سره اوسیږی په دیارلسو کالوکی ترنن ورځی پوری خالد دهندی دخپلی ښځی سره جماع نه ده کړی معلومه سویده چی په خالد کی څه نقص دی اوس هنده دخپل مهر اودکالو طلبګاره ده او اوس خالد ددی وجه څخه چی شرعا هنده په وجه دعدم خلوت دنیم مهر حقداره کیږی طلاق ورکول غواړی حال دادی چی ده مخکی پرستامپ باندی تحریری طلاق ورکړیدی نوپه دی صورت کی هنده دخالد څخه دپوره مهر اخیستو حقداره ده اوکه نه؟ اوپه دی طلاق واقع سو اوکه نه؟

جواب: که خالد دهندی سره خلوت کړی وی که څه هم جماع یی نه وی کړی نومهر پوره لازم دی اوخالد که طلاقنامه په غرض دطلاق ورکولو لیکلی وی نوطلاق واقع سو که څه هم دخالدپلار بکر داکاغذګرځولی کړی وی اوښکاره کړی یی نه وی. کمافی الشامی ولو قال للکاتب اکتب طلاق امراتی کان اقرارًا بالطلاق وان لم یکتب الخ (۱) وفی الدر المختار الخ کالوطی فیما یجئ ولو کان الزوج مجبوبا او عنینًا الخ (۲).

<u>**په دی ویلوسره چی واده نه دی سوی نو پرواده کم طلاق واقع نه سو**</u>: **سوال**: (۲۱۴) دیارلس میاشتی وسوی چی زما نکاح دیوی بالغی انجلی سره سویده خو ناوي لانه ده راغلی ددی وجه څخه زما ښځه لا دپلار کره ده په ناخبری کی زما څخه دوی غلطی وسوی اول داچی ما یوسړی ته مصلحةً دروپو دوصولولو په غرض دا دروغ ولیکل چی زما نکاح کیدونکي ده په دی کی به دروپو ضرورت وی نو روپی راکړه اوپه دی طریقه مي روپی وصول کړی دوهم داچی زما یودوست دواده په باره کی سوال وکی بیاهم ما دوی ته مصلحةً داجواب ورکی چی تراوسه زما واده نه دی سوی نوپه داسی صورت کی زماپر ښځی خوبه طلاق واقع نه وی؟

---

(۱) ردالمحتار کتاب الطلاق مطلب فی الطلاق ج۲ ص۵۸۹ ، ط. س. ج۳ ص ۲۴۲. ظفیر

(۲) الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب المهر ج۲ ص ۴۲۵ ، ط. س. ج۳ ص ۱۱۴. ظفیر

جواب: په دی لیکلو او ویلو سره چی زما نکاح کیدونکي ده یا تراوسه نه ده سوی پر منکوحه طلاق نه واقع کیږی خو ددروغو دخبری ګناه به وی ددی څخه توبه کښل په کار دی اواستغفار کول په کاردی: قال فی الدرالمختار او سئل لك امراۃ فقال لا لا تطلق اتفاقًا وفی الشامی ومثله قوله لم اتزوجك اولم یکن بیننا نکاح الخ (١).

په ذریعه دخط یی ښځی ته طلاق ورکی وو بیا یوځای اوسیدل اودطلاق څخه یی انکار وکړی نوڅه حکم دی؟ **سوال**: (۲۱۵) یوسړی خپل خسر ته ددی مضمون خط ولیږی چی اوس زه ښځه نه سم ساتلی ما ستا لورته چی زما ښځه ده طلاق ورکی زما اوددی هیڅ تعلق نسته اونه زما داستا دلور سره څه کارسته اونه ماته دخپل څه طلب سته، تاته اختیار دی چی خپله لور هرځای ورکوی ددی نکاح وکړه ددی امر تحقیق سویدی چی داخط دخاوند دی خوپه وجه دجهالت چی پلار دده بی تعلیمه دی ده داخط پټ وساتی اوچاته یی داښکاره نه کی او تقریبًا دوه کاله وروسته ددی خاوند ددی دمور او پلار کره راغی اوددی انجلی سره یی کوروالی وکی (انجلی په دی خط نه وه خبره) چی دهغه څخه یوهلك پیدا سو، اوس دری کاله وروسته داخط ښکاره سو چی دهغه خبر انجلی ته وسو اوس داجلا کیدل غواړی نوشرعا داطلاق واقع سو اوکه نه؟ او اوس ددی نکاح دبل سړی سره کیدی سی اوکه نه؟ اودا هلك به څنګه ګڼل کیږی؟

جواب: طلاق هم دهغه وخت څخه واقع سویدی چی کله دی سړی خط ولیکی خوکه دی دخط څخه انکار کوی نوددی ګناه پرده ده که دی درواغجن وی پرښځی ګناه نسته که خاوند دخط څخه منکره دی نوزوی هم دده دی (٢).

دطلاق نامی خبره وسوه خوپه کاغذ کی لا دطلاق لفظ نه وو راغلی چی پری یی ښووی نو طلاق واقع سو اوکه نه؟ **سوال**: (۲۱۶) دعمر او دده دښځی په مینځ کی بی اتفاقی جنګ او دعوی وسوی په دی دوران کی ددوی اتفاق رانغی چی تقریبا ددرو کالو څخه زیات وخت وسو اوس چی کله په دواړو کی هیڅ مصالحت ونه سو نو دانجلی دیو قریب په ذریعه داخبره جوړه سوه چی عمر دی ښځه ازاده کړی اوپه دواړو کی دی عدالتی دعوی ختمی سی نوپه دی عمر رضامند سو اودده په رضا سره طلاقنامه تحریر سوه په دی کی طلاق بائن ولیکل سو چی داعمر وویل او منظور یی کړه استامپ په خپل لاس لیکلو

---

(١) ردالمحتار کتاب الطلاق باب الصریح ج۲ ص ۲۲۳ . ط. س. ج۳ ص ۲۳۸ . ظفیر

(٢) کتب الطلاق ان مستبینا علی نحو لوح وقع ان نوی وقیل مطلقا ای نوی اولم ینو الخ وکتب علی وجه الرسالة والخطاب الخ طلقت (درمختار) وان کانت مرسومة یقع الطلاق نوی اولم ینو الخ وان لم یقر انه کتابه ولم تقم بینة لکنه وصف الامر علی وجه لاتطلق قضاء ولادیانة (ردالمحتار کتاب الطلاق ج۲ ص ۵۸۹ ، ط. س. ج۳ ص۲۴۲). ظ

باندی خبره وسوه اوعمر په خپله دطلاقنامي مسوده نقل کول شروع کړل خو الفاظ دطلاق لیکل نه وو رارسیدلی، چې په اتفاق سره دعمر یوقریب چې هغه ته دا فیصله منظوره نه وه عمر یې جلاکې اوخبرې یې ورسره وکړې ددې په وجه باقي پاته مسوده پر استامپ دلیکلو څخه پاته سوه نوپه دې صورت کې طلاق واقع سو اوکه نه؟

جواب: په شامي کې دي: ولو استکتب من آخر کتابا بطلاقها وقرأه علی الزوج فأخذه الزوج وختمه وعنونه وبعث به إلیها فأتاها وقع إن أقر الزوج أنه کتابه أو قال للرجل ابعث به إلیها أو قال له اکتب نسخة وابعث بها إلیها وإن لم یقر أنه کتابه ولم تقم بینة لکنه وصف الأمر علی وجهه لا تطلق قضاء ولا دیانة الخ (١). ددې عبارت څخه واضحه سوه چې په مسئوله صورت کې دعمر پرښځې طلاق واقع نه سو ځکه چې ده کمه مسوده په استامپ نقل کول شروع کړې وو نوپه دې کې دطلاق دلفظ لیکلو نوبت نه وو راغلی او نه ددې تکمیل سوی وو او نه دعمر دستخط وغیره پردې سوي وو.

ایضًا: دا جواب چې کم مخکې لیکل سوی وو ددې وجه څخه دوقوع دطلاق دپاره کافي دی اوصحیح جواب اوس داحقر په خیال کې هم دادی چې په دې صورت کې طلاق واقع سو. کما في الدرالمختار ولو قال للکاتب اکتب طلاق امراتی کان اقرارا بالطلاق وان لم یکتب (٢).

خاوند په خوشحالي سره طلاقنامه ولیکله خوښځې ته یې ونه لیږله او اوس انکارکوي نوطلاق واقع سو اوکه نه؟ **سوال**: (۲۱۷) یوې ښځې دخپل مور پلار کره تلل غوښتل ددې خاوند دوتلو څخه منع کړه خوښځه دخپل اخښي سره ولاړه بې دخاوند داجازت څخه دخپل مور او پلار کره، چې خاوند ته خبر ورسیدی نودی په غصه کې پهلور نومی کلي ته ولاړی او کاغذ دطلاقنامي یې واخیستي اوپه عارضه نویس یې ولیکې چې دخیران نومي ښځې سره زمانکاح سوی وه اوس په وجه دبې اتفاقي لفظ دطلاق یې درې واره ووایه او مذکوره ښځې ته یې ښه په خوشحالي طلاق ورکې، چې ددې دوه شاهدان دي چې یومې دي اودوهم په دې وخت کې نسته پر طلاقنامه دخاوند ګوته ده بیا یې تر دې لاندې دمضمون دتصدیق اوتصحیح دپاره خپل نوم په خپل قلم لیکلی دی چې دطلاقنامي دنقل څخه ثابتیږي غرض داچې دا طلاقنامه ددې سړي سره پاته سوه اوخپلې ښځې ته یې ونه لیږله اونه یې دیته اطلاع ورکړه چې دا دخپل مور اوپلار کره تر دوو کالو پورې وه ددې خاوند څخه ددې یوزوی هم پیدا سو بیا خاوند ولاړی او رایې وسته ښځه او

(١) ردالمحتار کتاب الطلاق ج۲ ص ۵۸۹ ، ط. س. ج۳ ص ۲۴۲. ظفیر
(٢) ردالمحتار کتاب الطلاق ج۲ ص ۵۸۹ ، ط. س. ج۳ ص ۲۴۲. ظفیر

سړی په اتفاق سره آباد دی، ددی طلاقنامی خبر دوو درو سړیانو ته وو چی دخاوند راز دار وه، ښځی ته اوعوامو ته خبرنه وو، یوسړی پردی خاوند باندی اته نه کاله وروسته دعوه وکړه او دطلاقنامی نقل یی په عدالت کی پیش کی، خاوند بیان وکی چی ما خونه ښځی ته طلاق اچولی دی اونه می څه کاغذ دطلاقنامی دپاره اخیستی دی اونه می طلاقنامه لیکلی ده زمایو مخالف ماته شراب راکړی به وی اوزما گوته به یی لگولی وی اوڅه کاغذ به یی اخیستی اوتحریر کړی به یی وی، نوسوال دادی چی یوطرف ته خو دی دطلاقنامی داخیستو اودتحریر څخه انکاری دی او ددی دجعلی اوفرضی کیدو اقرار کوی اوبل طرف ته ددی طلاقنامی داخیستو ثبوت دوثیقه فروش سره دده په رجسټر کی دگوتی دنښانی اودلیکلو ثبوت دعرض نویس په رجسټر کی اوپر مضمون دطلاق دده دوباره دگوتی نښانه او دستخط سره دشاهدی ددوو شاهدانو یو دروند شهادت دی نوپه دی صورت کی دده ښځه طلاقه سوه اوکه نه؟ او دمذکوره ښځی دنس څخه اوددی سړی دنطفی څخه یوزوی او دوی لوڼی دی.

جواب: وبالله التوفيق چی کله خاوند ددی طلاق او ددی لیکلو اقرار نه کوی اونه شرعی شاهدی داوخت سته چی کم ددی تحریر شاهدی ورکړی اواحتمال ددهوکی سته نوپه دی باره کی احتیاط کیږی اودطلاق حکم به نه کیږی او اولاد به ثابت النسب وی. کمافی رد المحتار باب ثبوت النسب: والنسب يحتال لإثباته مهما أمكن، وفي كتاب القاضي الى القاضي منه، قوله لا يعمل بالخط عبارة الأشباه لا يعتمد على الخط ولا يعمل بمكتوب الوقف الخ قال البيري المراد من قوله لا يعتمد أي لا يقضي القاضي بذلک عند المنازعة لأن الخط مما يزور ويفتعل كما في مختصر الظهيرية وليس منه ما في دواوين القضاء (۱) الخ قوله ويلحق به البراءات عبارة الأشباه ويمكن إلحاق البراءات السلطانية المتعلقة بالوظائف إن كانت العلة أنه يعني كتاب الأمان لا يزور وإن كانت العلة الاحتياط في الأمان لحقن الدم فلا أقول يجب المصير إلى الأخير سائحاني أي لإمكان التزوير بل قد وقع كما ذكره الحموي، الى آخر ما قال (۲). حاصل داچی که څه هم چی کاغذونه ددفترونو په بعضو مواقعو کی حجت هم منل کیږي خوپه دی کی اختلاف ضرور سته اواحتمال ددهوکی هم سته نوځای داحتیاط دادی چی ضروری نه دی چی په دی عمل وسی یعنی چی کله احتیاط ددی په خلاف کی وی اومسئله داحتیاط فی اثبات النسب مشهوره ده په اثبات دنسب کی په قدر دامکان حیله کیږی ددی وجه څخه تعرض کول دخاوند سره

(۱) ردالمحتار باب کتاب القاضی الی القاضی مطلب لایعمل بالخط ج۲ ص۴۸۹، ط. س. ج۵ ص ۴۳۵. ظفیر
(۲) ردالمحتار باب کتاب القاضی الی القاضی ج۲ ص ۴۸۹. ظفیر

په دى باره كى لازم نه دى اوښځه اوخاوند پرخپل حال پرينښوول په كاردى چى كه په واقع كى خاوند درى طلاقه وركړى وي اوبيا ښځه بى له حلالې كولو څخه ساتى نو ددى گناه پرده ده خوچى كله دى دتحريرى طلاق او دزبانى طلاق وركولو څخه منكردى اودوه عادلان شاهدان دزبانى طلاق يا دتحريرى طلاق وركولو نسته ([1]) اوعريضه نويسان او وثيقه فروش داسى عادلان نه دى چى ددوى شاهدى مثبت دطلاقو سى او بيا نصاب دشاهدى هم موجود نه دى او په دوو شاهدانو كى يو مړدى او دده عادل او ثقه كيدل هم معلوم نه دى نوهيڅ وجه شرعى داسى نسته چى په دى سره دخاوند قول ردسى اوطلاق ثابت سى او داولاد نسب نفى سى او اولاد ولد الزنا ومنل سى باقى دا ليكل دبعضو مفتيانو حضراتو چى طلاق دسكران هم واقع كيږى په دى كى داخبره ده چى خاوند په حالت دسكر كى دطلاق اقرار هم نه كوى اونه دوه شاهدان عادلان په حالت دسكركى دطلاق وركولو شاهدى كوى خاوند خوپه احتمالى طور سره داسى وايى چى زما مخالف به ماته شراب راكړى وى اوزما گوته به يى لگولى وى اوڅه وثيقه به يى اخيستى او ليكلى وى، وگورى په دى كى لفظ (ليكلى به يى وى) موجود دى چى ددى څخه دا معلومه ده چى دى په حالت دسكر كى دخپل تحرير اقرار نه كوى بيا تعجب دى چى دطلاق دسكران واقع كيدل په دى موقع څنگه حجت كيدى سى فقهاؤ چى كم طلاق دسكران واقع كيدل ليكى ښكاره ده چى مراد ددوى دادى چى كه طلاق دسكران ثابت سى نوواقع دى او ددى ثابتيدل په دوو طريقو سره كيږى ياپه دوو شاهدانو ياچى دى په خپله اقرار وكړى اوپه طلاق نامه ليكلو كى علامه شامى داتفصيل كړيدى چى دمسئوله صورت طلاقنامه په دى سره غير معتبر گرځيږى. قال قبيل الصريح ولو استكتب من آخر كتابا بطلاقها وقرأه على الزوج فأخذه الزوج وختمه وعنونه وبعث به إليها فأتاها وقع إن أقر الزوج أنه كتابه أو قال للرجل ابعث به إليها أو قال له اكتب نسخة وابعث بها إليها وإن لم يقر أنه كتابه ولم تقم بينة لكنه وصف الأمر على وجه لا تطلق قضاء ولا ديانة وكذا كل كتاب لم يكتب بخطه ولم يمله بنفسه لا يقع الطلاق ما لم يقر أنه كتابه ج۲ ص٤۲۹ شامى ([2]). فقط

<u>پرطلاقنامه په دستخط كولو سره طلاق واقع سو اوكه نه؟</u> سوال: (۲۱۸) دزيد ښځه بكر چى دزيد داكازوى دى دزيد په عدم موجودگى كى خپل كورته بوتله اوتردرو مياشتى پورى دايى ولمسوله دخپل ځان سره يى موافقه اودزيد سره يى مخالفه كړه نوبت ديته راغى

([1]) ونصابها (اى الشهادة) لغيرها من الحقوق سواء كان الحق مالا او غيره كنكاح وطلاق الخ رجلان الخ اورجل وامراتان (الدرالمختار على هامش ردالمحتار كتاب الشهادة ج۴ ص۵۱۵ - ۵۱۲، ط. س. ج۵ ص۴۶۵). ظفير

([2]) ردالمحتار كتاب الطلاق ج۲ ص ۵۸۹ ، ط. س. ج۳ ص ۲۴۲. ظفير

چې کله زید ددی دراوستلو دپاره ورغی نوده انکار وکی بکر وویل چې ددی کردار صحیح نه دی ته داپریږده زه به یې هم دخپله کوره وباسم پردی بناء طلاق نامه ولیکل سوه خوپر دی باندي دستخط کولو دپاره څلور ګنټې وغوښتل سوی خو دزید یو قریبی قریب دی په دستخط کولو مجبوره کی او وروسته معلومه سوه چې داټوله دهوکه وه ځکه چې بکر ددی سره په خپله نکاح کول غوښتل په دی صورت کی دزید ښځه طلاقه سوه اوکه نه؟

جواب: چې کله زید په خپله طلاقنامه نه ده لیکلی اونه یې په بل لیکلی ده بلکی نورو خلګو په خپله لیکلی وه اوپه زید باندی یې دستخط وکی اوزید ددی طلاقنامی مضمون نه ویلی دی او نه یې اوریدلی دی بلکی دچا په مجبورولو یې دستخط وکی او دی دطلاق اقرار هم نه کوی نوپه دی صورت کی دده ښځه طلاقه نه سوه اونکاح دزید ددی سره قائمه ده اودی په شان دمخکنی داپه خپله نکاح کی ساتلی سی په شامی کی دی: وکذا کل کتاب لم یکتبه بخطه ولم یمله بنفسه لایقع الطلاق ما لم یقر انه کتابه الخ ([1]). فقط

خاوند وایی معلق طلاق می ورکړیدی په قطعی طلاقنامه یی ددستخط څخه انکار وکړی خو په ویلو اوورولو سره یې دستخط وکی نو څه حکم دی؟ **سوال**: (۲۱۹) رابعه بیګم ته ددی خاوند عبدالکریم معلق طلاق ورکی اواقرار نامه یې ولیکله چې په عدالت کی پیش سی اوچې کمه مقدمه رابعه بیګم پرخپل خاوند کړیده داخارجه سی خوپه طلاق نامه کی یې طلاق منجز ولیکل عبد الکریم شاه چې واوریدل نو ددستخط کولو څخه یې انکار وکی چې زه خوهم هغه مشروط طلاق ورکوم، حاضرینو وویل چې په مشروط طلاقو سره مقدمه نه خارجوی ستا طلاق مشروط دی خو داخراج دمقدمی دپاره پرقطعی طلاقو دستخط وکړه په دی غرض عبدالکریم پرقطعی طلاق دستخط وکی ددی قصی شاهد سته، نو دعبدالکریم شاه ښځه طلاقه سوه اوکه نه؟

جواب: په شامی کی دی. ولوقال للکاتب اکتب طلاق امرأتي کان إقرارا بالطلاق وإن لم یکتب ولو استکتب من آخر کتابا بطلاقها وقرأه علی الزوج فأخذه الزوج وختمه وعنونه وبعث به إلیها فأتاها وقع إن أقر الزوج أنه کتابه أو قال للرجل ابعث به إلیها أو قال له اکتب نسخة وابعث بها إلیها وإن لم یقر أنه کتابه ولم تقم بینة لکنه وصف الأمر علی وجهه لا تطلق قضاءً ولا دیانة وکذا کل کتاب لم یکتبه بخطه ولم یمله بنفسه لا یقع الطلاق ما لم یقر أنه کتابه الخ ص ٤٢٩ شامی ج۲ ([2]). ددی تمامو روایتونو

[1] ردالمحتار کتاب الطلاق ج۲ ص ۵۸۹ ، ط. س. ج۳ ص ۲۴۷. ظفیر

=

څخه داواضحه کیږی چی په تحریری طلاق کي چي کم اقرار دخاوند دی، دهغه موافق عمل به ترسره کیږي نوکله چي خاوند داسي وايي چي ما پرتحریر دطلاق باندی پر بناء دمنلو دمعلق طلاق دستخط کړیدی نو قضاءً اودیانةً په دواړو سره به داطلاق معلق وی اوچی شرط موجود نه سی نوطلاق به هم واقع نه وی (۱).

یو طلاق یی ورکی او اولس ۱۷ کاله یی پرې ایښی وه اوس یی ساتل غواړی څه وکړی؟

سوال: (۲۲۰) زید دخپلی ښځی په وجود کی پریوه بله ښځه عاشق سو دی ښځی زور ولګوی چی ترڅو ته خپلی ښځی ته طلاق ورنه کړی نوتر هغه به زه ستاسره نکاح ونه کړم زید ددی په وینا خپلی ښځی ته تحریری طلاقنامه ولیکله خپلی ښځی ته ورغی چی زه تاته طلاق درکوم ښځی وویل چی زما قصور ثابت کړه ماته طلاق اخیستل ثابت نه دی بیا زید خاموش سو او طلاقنامه یی بیرته واخیسته اووه لس کاله وروسته دازید خپل کور ته راوستل غواړی نودا راوستلی سی اوکه نه؟

جواب: په دی صورت کی چی زید کله خپلی ښځی ته طلاق ولیکی یایی په بل ولیکی نوطلاق ددغه وخت څخه واقع سو وروسته که زید داساتل غواړی نو ددی سره به نوی نکاح په نوی مهر کوی او دنکاح څخه وروسته یی ساتلی سی په دی شرط چی دری طلاقه یی نه وی لیکلی کنې نو بیا حلاله ضروری ده: ولو قال للکاتب اکتب طلاق امراتی کان اقراراً بالطلاق الخ (۲) شامی وفیه: وإن کانت مرسومة یقع الطلاق نوی أو لم ینو ثم المرسومة لا تخلو إما أن أرسل الطلاق بأن کتب أما بعد فأنت طالق فکما کتب هذا یقع الطلاق وتلزمها العدة من وقت الکتابة (۳) شامی، اوکه څه هم په دی صورت کی څه اشتباه دعدم وقوع دطلاق هم سته خو بیاهم نکاح تازه کول ښه دی چی شبهه ختمه سی. فقط

طلاقنامه یی جبراً نقل کړه نوطلاق واقع سو اوکه نه؟ **سوال:** (۲۲۱). الله رکهو په عبد الغنی دبیری په وجه داتحریر نقل کی خوپه قسم وایی چی زما نیت دطلاقو نه وو نو طلاق واقع سو اوکه نه؟

جواب: په دی صورت کی به که څه هم قاضی حکم دطلاقو کوی خو دیانةً دده قول معتبر

---

(۲) ردالمحتار کتاب الطلاق مطلب الطلاق بالکتابة ج۲ ص ۵۸۹ ، ط. س. ج۳ ص ۲۴۲. ظفیر

(۱) واذا اضافه الی الشرط وقع عقیب الشرط اتفاقا (عالمگیری فصل ثالث فی تعلیق الطلاق ج۱ ص۴۵۰ ط. ماجدیه ج۱ ص۴۲۰). ظفیر

(۲) ردالمحتار للشامی کتاب الطلاق ج۲ ص ۵۸۹ ، ط. س. ج۳ ص ۲۴۲. ظفیر

(۳) ردالمحتار کتاب الطلاق ج۲ ص ۵۸۹ ، ط. س. ج۳ ص ۲۴۲. ظفیر

دی او طلاق به نه وی سوی (۱).

طلاقنامه یی ولیکله اووی لیرله خوښځی ته ونه رسیدله نوهم طلاق واقع سو: سوال: (۲۲۲) زید تحریری طلاقنامه یوسړی ته ورکړه چی ته دا دده ښځی ته ورسوه مذکوره سړی دا طلاقنامه دزید پلار ته ورکړه ده خوندي کړه اووی نه لیږله نوپه دی صورت کی طلاق واقع سو اوکه نه؟

جواب: په دی صورت کی چی زید کله طلاقنامه په خپله یاپه بل ولیکله ددغه وخت څخه دزید پرښځی طلاق واقع سو. قال فی الدرالمختار ولوقال للکاتب اکتب طلاق امراتی کان اقراراً بالطلاق وان لم یکتب انتهٰی (۲) ملخصا. فقط

طلاقنامه یی ولیکله خوښځی ته یی وانه وروله نوڅه حکم دی؟ سوال: (۲۲۳) زید خپلی ښځی ته طلاقنامه ولیکله خوهندی ته یی وانه وروله اونه بل چاته معلومه سوه دطلاق نامی دلیکلو څخه یوه دوی میاشتی وروسته یی هندی ته وویل زه تاته طلاق درکوم او کشر ورور ته دی په نکاح کوم اوبی درضامندی دښځی یی ددی ګوته پر رجسټر دنکاح خوان په زبردستی ولګوله نوپه دی طریقی سره نکاح صحیح کیږی اوکه نه اوپه دی صورت کی طلاق به دکم وخت څخه واقع وی؟

جواب: دا مسلمه ده چی عده دطلاقو څخه وروسته سمدستی شروع کیږی اوتصریح ددی په کتابونو دفقه کی موجوده ده (۳) اودا هم په شامی وغیره کی تصریح ده چی په کتابت سره طلاق واقع کیږی اوپه شامی کی دی چی صرف په امر سره کاتب ته په کتابت دطلاقو سره هم طلاق کیږی نوچی کله زید ددی طلاقنامه دلیکلو څخه انکار نه کوی نو دهم دغه وخت څخه طلاق واقع سو (۴) او ددغه وخت څخه عده شروع سوه اوپه زور سره دښځی څخه په ګوته لګولو سره طلاق نه صحیح کیږی (۵) اودشاهدانو داختلاف په صورت

(۱) وفی البحر ان المراد الاکراه علی التلفظ بالطلاق فلو اکره علی ان یکتب طلاق امراته فکتب لاتطلق (ردالمحتار کتاب الطلاق ج۲ ص۵۷۹ ، ط. س. ج۳ ص ۲۳۶). ظفیر

(۲) ردالمحتار کتاب الطلاق ج۲ ص ۵۸۹ ، ط. س. ج۳ ص ۲۴۶. ظفیر

(۳) رجل تزوج امراة نکاحا جائزا وطلقها بعد الدخول اوبعد الخلوة الصحیحة کان علیها العدة (قاضی خان علی هامش عالمگیری باب العدة ج۱ ص ۵۳۸ ط. ماجدیه ج۱ ص ۵۴۹). ظفیر

(۴) ولو قال للکاتب اکتب طلاق امراتی کان اقرارا بالطلاق وان لم یکتب (ردالمحتار کتاب الطلاق ج۲ ص ۵۸۹) کتب الطلاق ان مستبینا الخ وقع (الدرالمختارعلی هامش ردالمحتارج۲ ص۵۸۹، ط. س. ج۳ ص۲۴۶).

(۵) ځکه چی په دی کی نه ایجاب سته اونه شاهد سته دجواز دنکاح صورت یې دالیکلی دی: ان یکتب الیها یخطبها فاذا بلغها الکتاب وأحضرت الشهود وقرأته علیهم وقالت زوجت نفسي منه أو تقول إن فلانا کتب إلي یخطبني فاشهدوا أني زوجت نفسي منه أما لو لم تقل بحضرتهم سوی زوجت نفسي من فلان لا ینعقد لأن سماع الشطرین شرط صحة النکاح وبإسماعهم الکتاب (ردالمحتار کتاب النکاح ج۲ ص۲۲۳، مطلب التزوج =

کی هم نکاح نه صحیح کیږی او نه ثابتیږی. فقط

فارغ خطی یی ولیکله اوځیری کړه نوطلاق واقع سو اوکه نه؟ **سوال**: (۲۲۴) دزید اودده دښځی په مینځ کی بی اتفاقی راغله نوزید نور سړی راجمع کړل اوفارغ خطی دطلاقو یی ولیکله او دایی وویل چی هلك او انجلی ماته وسپاره چی زه دا طلاقنامه درکړم نو اهل مجمع وویل چی داولاد ترپالنی پوری هندی ته نان نفقه ورکوه ده وویل چی دهلك او دانجلی دلویدو څخه وروسته به طلاق ورکړم په دی کی ډیر تکرار وسو خوهندی هلك او انجلی ورنه کړل زید طلاقنامه وشلوله او وتښتیده شپږ میاشتی وسوی چی زید بیرته راغی او دښځی سره اوسیږی آیا دزید بیرته راتلل او دښځی سره اوسیدل خلاف دشریعت خونه دی او دښځی او دزید په مینځ کی نکاح قائمه ده اوکه نه؟

جواب: په ردالمحتار کی دی: ولو قال للكاتب اكتب طلاق امرأتي كان إقرارا بالطلاق وإن لم يكتب ولو استكتب من آخر كتابا بطلاقها وقرأه على الزوج فأخذه الزوج وختمه وعنونه وبعث به إليها فأتاها وقع إن أقر الزوج أنه كتابه أو قال للرجل ابعث به إليها (۱) الخ. ددی دوهم روایت: ولو استكتب من آخر كتابا بطلاقها الخ څخه معلومیږی چی په مسئوله صورت کی طلاق نه دی سوی ځکه چی په ښکاره مسئوله صورت ددی مطابق دی نوکه داصورت واقع سوی وی نوبیا په مسئوله صورت کی طلاق واقع نه دی او دزید او دده دښځی نکاح باقی ده.

دطلاقنامی مسوده تیاره سوه او وی ویل چی دومره روپی راکړه چی دا طلاقنامه رجسټر سی نوڅه حکم دی؟ **سوال**: (۲۲۵) زید دا درلیږل سوی طلاقنامه مسوده تیاره کړه اوخپلی ښځی ته یی وویل چی پنځوس روپی راکړه نودا طلاقنامه به رجسټر سی مسوده یی ولیکله اوس دی انکاری دی اوښځه پرخپل اقرار قائمه ده چی زما څخه روپی واخله او ما پریږده دابنکاره ده چی عزم درد ددی مسودی څخه صفا ښکاره دی الفاظ دطلاق بائن یی هم لیکلی دی نوآیا داطلاق واقع سو اوکه نه؟

جواب: که ددی طلاقنامی دلیکلو څخه دښځی سره فیصله سوی وی چی ښځه مهر معاف کی نو دخاوند په دی لیکلو اوپه دی تحریر سره به دده پرښځه طلاق بائن واقع وی ځکه چی عبارت دطلاق نامی دادی چی دي ماته مهر معاف کی اوما طلاق بائن ورکی نوکه واقعی ښځی مهر معاف کی نوطلاق واقع سو اوکه تراوسه یی مهر نه وی معاف کړی نو

= بارسال الکتب ط. س. ج۳ ص۱۲). ظفیر

(۱) ردالمحتار کتاب الطلاق ج۲ ص ۵۸۹ ، ط. س. ج۳ ص ۲۴۲. ظفیر

طلاق واقع نه سو ځکه دطلاق واقع کیدل دمهر پرمعافی موقوف دی [۱]، ددی لیکلو څخه چی ښځه په مهر معاف کولو تیاره ده داښکاره کیږی چی ښځی مهر نه دی معاف کړی نو ددی وجه څخه دا طلاقنامه کار نه کوی اوس که بیا خاوند راضی سي نوخلع دی وکړی یعنی ښځه دی مهر معاف کړی او دی دی طلاق ورکړی.

دمنصف په مخکی یی وویل شپږ میاشتی وسوی چی طلاق می درکړیدی ده دری طلاقه ورکړل څه حکم دی؟ **سوال**: (۲۲۲) یو سړی خپلی ښځی ته دخلع دطلاق ورکولو دپاره قاضی ته (چی دانګریزانو تنخوا دار دی) ولاړی چی رجسټر یی کړی خلع کوونکی وویل چی ته دقاضی په مخکی ووایه چی ماخپلی ښځی ته یوکال وسو چی طلاق ورکړیدی قاضی وویل که دیو کال مخکی طلاق ورکول بیانوی نورجسټری به صحیح نه وی زیات تر زیات دپنځو شپږو میاشتو مخکی رجسټری کیدی سی نوموافق دقول دقاضی خلع کوونکی وویل صاحبه داسړی وایی چی ما دبهادرو په میاشت کی طلاق ورکړیدی نوبیا قاضی بی دچا دپوښتنی دری طلاقه رجسټری کړل دی خلګو درجسټری څخه یوه ورځ وروسته نکاح وکړه آیا شرعا دا مذکوره ښځه طلاقه سوه اوکه نه؟ اودنکاح کوونکی نکاح صحیح سوه اوکه نه؟ اودنکاح دشریکانو اودنکاح خوان نکاح باطله سوه اوکه نه؟

جواب: که پردی کاغذ دستخط یا دګوتی نښانه وی غرض داچی تصدیق ددی مضمون دطلاقو دخاوند دارخه سوی وی نودری واړه طلاق واقع سوه [۲] خوطلاق به هم دغه وخت واقع کیږی چی کله خاوند طلاقنامه ولیکله په تیره سوی زمانه کی به طلاق نه وی واقع مثلا که خاوند دا ووایی چی ما یوکال وسو چی طلاق ورکړیدی اوپه واقع کی یی طلاق نه وو ورکړی نوفی الحال اوس طلاق واقع سو، په درمختار کی دی: ولو نكحها قبل امس وقع الآن لان الانشاء فى الماضى انشاء فى الحال الخ قوله لان الإنشاء في الماضي إنشاء في الحال لأنه ما أسنده إلى حالة منافية ولا يمكن تصحيحه إخبارا لكذبه وعدم قدرته على الإسناد فكان إنشاء في الحال الخ شامى ج۲ ص ٤٤٢ (۳) وفى الشامى ايضاً ولوقال للكاتب اكتب طلاق امرأتي كان إقرارا بالطلاق وإن لم يكتب ولو استكتب من آخر كتابا بطلاقها وقرأه على الزوج فأخذه الزوج وختمه وعنونه وبعث به إليها فأتاها وقع إن أقر الزوج أنه كتابه الخ [۳] ج۲ ص ٤٢٩. اوچی کله طلاق په وخت

---

[۱] واذا اضافه الی الشرط وقع عقیب الشرط اتفاقا (عالمگیري مصري بحث تعليق ج۱ ص۴۵۰، ط. ماجدية ج۱ ص۱۲۰). ظفير

[۲] وكذا كل كتاب لم يكتبه بحظه ولم يمله بنفسه لايقع الطلاق ما لم يقر انه كتابه (ردالمحتار كتاب الطلاق ج۲ ص۵۸۹، ط. س. ج۳ ص ۲۴۷). ظفير

[۳] وګوری ردالمحتارباب الصريح مطلب اضافة الطلاق الى الزمان ج۲ ص ۲۰۷، ط. س. ج۳ ص ۲۲۲. ظفير=

درجستړی واقع سو نو ددی څخه یوه ورځ وروسته ددی دبل سړی سره نکاح باطله ده ځکه چی په عده کی نکاح باطله ده (۱) دمجلس دحاضرینو او دنکاح خوان نکاح باطله نه سوه: لانهم لم یرتدوا بهذه المعصیة وفسخ النکاح فرع الارتداد.

بی ددستخط دخاوند څخه خط راغی چی ښځی ته زما دطرفه اجازه ده نو څه حکم دی؟

سوال: (۲۲۷) یو سړی خپله ښځه ددی دپلار کره پرېښې ده او ولاړی ترپنځو کالو پوری دی کورته رانغی خودده خبر به کله کله راتلی دده دطرفه یوخط خسر ته راغی چی زما دراتلو امید نسته ددی وجه څخه زماپه ښځی مهر معاف کړه اوښځی ته زما دطرف څخه اجازه ده، پردی خط دده دستخط نه وو پردی مضمون خلګو فتوٰی وغوښته جواب ورکول سو چی که دی ورك سوی وی اوڅلور پنځه کاله سویدی نودا ښځه دی عده تیره کړی اونکاح کولی سی، ده دخط خبر واوریدی راغی اودخط څخه انکار کوی خلګو فتوٰی ور وښووله اوورته وې ویل چی ستا ښځی ته طلاق سویدی ده جواب ورکی چی که شریعت پردی دطلاقو فتوٰی لګولی وی نوزه هم دشریعت دحکم څخه انکار نه کوم دده دښځی نکاح هم دغه وخت په بل ځای کی وسوه نوپه دی صورت کی نکاح صحیح ده اوکه نه؟

جواب: په دی صورت کی دده پرښځی دطلاق دحکم کولو دپاره هیڅ وجه نسته اودوهمه نکاح صحیح نه ده اول خودا سړی دخط څخه منکردی اوشرعی شاهدی نسته (۲) اوکه دی داخط تسلیم هم کړی نوپه دی خط کی هیڅ صریح لفظ دطلاقو نسته ، که څه دی نوهغه دکنایی لفظ دی اوپه دی کی دخاوند دنیت اعتبار دی اودا خاوند نه منی په هر حال دطلاق دواقع کیدو هیڅ څه وجه نسته اودمفقود کیدو په صورت کی ددعوٰی څخه وروسته څلور کاله تیرول ضروری دی ددعوٰی څخه مخکی چی کمه موده تیره سوه دهغه هیڅ اعتبارنسته بلکه چی دکله څخه ښځی ته مهلت ورکول سی اودقاضی یادمسلمانانو دجماعت دطرف څخه دڅلورو کالو موده مقرره سی ددغه وخت څخه به څلور کاله تیرول ضروری وی دڅلوروکالو دتیرولوڅخه وروسته به ښځه دعدی دوفات لس ورځی اوڅلور میاشتی تیری کړی اودوهمه نکاح کولی سی لکه چی دامام مالك مذهب دی. کذا فی

(۳) وګوری ردالمحتار کتاب الطلاق مطلب الطلاق بالکتابة ج۲ ص ۵۸۹ ، ط. س. ج۳ ص ۲۴۲. ظفیر

(۱) ورکنها حرمات ثابتة بها بها کحرمة تزوج (درمختار) ای تزوجها غیره فانها حرمة علیها (ردالمحتار باب العدة ج۲ ص۸۲۵، ط. س. ج۳ ص ۵۰۴). ظفیر

(۲) وان لم یقر انه کتابه ولم تقم بینة لکنه وصف الامر علی وجه لا تطلق قضاء ولا دیانة (ردالمحتارکتاب الطلاق ج۲ ص۵۸۹، ط. س. ج۳ ص ۲۴۷). ظفیر

المدونة الکبرٰی للمالکیه [۱]. اوددی سړی شرعی فتوٰی تسلیمول طلاق نه ښکاره کوی ځکه چې داکمه فتوٰی دطلاقو سویده صحیح نه ده.

طلاق ورکول دی دایی وویل او طلاقنامه یی په بل ولیکله بیایی څیری کړه نو طلاق واقع سو اوکه نه؟ سوال: (۲۲۸) زید بکرته وویل چې ماته طلاق نامه ولیکه بکر وویل چې دچا طلاق نامه لیکی؟ زید وویل زما خپلی ښځی ته طلاق ورکول دی وروسته ددوستانو په پوهولو یی طلاقنامه څیري کړه نوطلاق واقع سو اوکه نه؟ اوزید په ژبه دری طلاقه نه دی ورکړی.

جواب: دزید داقول چې زما خپلی ښځی ته طلاق ورکول دی پردی دلالت کوی چې ده لا تراوسه طلاق نه دی ورکړی بلکی دطلاق ورکولو اراده یی ده، اوبیا ده داطلاق نامه خپلی ښځی ته ونه لیږله اونه یی په خپله ورکړه بلکی دایی څیري کړه نوپه دی صورت کی دشامی دروایت مطابق دده ښځه طلاقه نه سوه. قال فی الشامی: ولو استکتب من آخر کتابًا بطلاقها وقرأه علی الزوج فاخذه الزوج وختمه وعنونه وبعث به الیها فاتاها وقع ان اقر الزوج انه کتابه الخ وکذا کل کتاب لم یکتب بخطه ولم یمله بنفسه لا یقع الطلاق ما لم یقر انه کتابه الخ [۲]. اودیوبل روایت مطابق چې په شامی کی دی: ولوقال للکاتب اکتب طلاق امراتی کان اقرارا بالطلاق وان لم یکتب [۳] دا وویل سی چې په دی صورت کی دزید داویل چې طلاقنامه ولیکه اقرار دطلاق سو نومخ ته په دی کی دابحث دی چې دزید دبل کلام څخه چې لوړ لیکل سویدی فی الحال طلاق ورکول نه معلومیږی بلکه په راتلونکی زمانه کی اراده معلومیږی او دوهم دا چې ددری طلاقو لفظ زید نه دی ویلی نوپه دی صورت کی که طلاق واقع هم سی نو رجعی به وی په دی عده کی دننه بی دنکاح څخه رجوع صحیح ده نو احتیاط دادی چې زید دی په دی عده کی دننه رجوع وکړی چې هیڅ شبهه پاته نه سی.

طلاقنامه یی دبل په ذریعه ولیکله او دستخط یی هم وکی نوطلاق واقع سو: سوال: (۲۲۹) زید سټامپ په غرض دطلاق ورکولو خپلی ښحی ته واخیستی اومنشی ته یی ورکی چې

---

(۱) دتفصیل دپاره وګوره الحیلة الناجزة للتهانوی زیر عنوان: حکم زوجهٔ مفقود. دمدونه کبرٰی عبارت دادی: قلت أرأیت امرأة المفقود أتعتد الأربع سنین في قول مالك بغیر أمر السلطان؟ قال مالك لا، وإن أقامت عشرین سنة ثم رفعت أمرها إلی السلطان نظر فیها وکتب إلی موضعه الذي خرج إلیه فإن یئس منه ضرب لها من تلك الساعة أربع سنین فقیل لمالك هل تعتد بعد الأربع سنین عدة الوفاة أربعة أشهر وعشرا من غیر أن یأمرها السلطان بذلك؟ قال نعم الخ (المدونة الکبرٰی ما جاء فی ضرب اجل المراة المفقود ج۵ ص۱۳۲). ظفیر

(۲) ردالمحتار کتاب الطلاق ج۲ ص ۵۸۹ ، ط. س. ج۳ ص ۲۴۲. ظفیر

(۳) ایضا ط. س. ج۳ ص ۲۴۲. ظفیر

پردی زما دطرفه طلاقنامه ولیکه منشی دعرف عام مطابق په دی کي دری واره ولیکل اوګوته دزید یی باندی ولګوله خوزید په خولی طلاق ورنه کی آیا دزید پرښځی په دی صورت کی طلاق واقع سو اوکه نه؟

جواب: چی کله زید ددی طلاقنامی متعلق دا اقرار کوی چی دازما دطرف څخه ده اوپه طلاقنامه کی دری طلاقه لیکلي دی نو دده پرښځی دری طلاقه وسوه او دا مغلظه سوه بی له حلالې اوس دده ددی سره دوهمه نکاح جائزنه ده: قال فی الشامی ولوقال للکاتب اکتب طلاق امراتی کان اقراراً بالطلاق وان لم یکتب (١). اوچی دکله څخه داطلاق نامه لیکل سویده ددغه وخت څخه به شمیرل کیږی.

استامپ یی واخیستی اوطلاق نامه یی ولیکله خو دستخط ونه سو نوطلاق واقع سو اوکه نه؟

سوال: (۲۳۰) دزید دخور نکاح دعمر سره وسوه اودعمر دخور نکاح دزید سره دډیری مودی څخه وروسته دنااتفاقی په وجه زید اوعمر په طلاق ورکولو تیار سوه نواستامپ واخیستل سو اومکمله طلاقنامه ولیکل سوه اوشاهدی وغیره هم ولیکل سوه دستخط لا باقی وو چی په یو وجه دامعامله پاته سوه او استامپ خزانی ته بیرته واپس سو په دی صورت کی طلاق واقع سو اوکه نه؟

دپوښتنی کوونکی ښځی بیان دی چی کم وخت عرض نویس استامپ لیکل شروع کړی وه دغه وخت دطلاق ورکوونکی څخه یی پوښتنه وکړه چی طلاقنامه ولیکو؟ نو طلاق ورکوونکی وویل وې لیکه ددی څخه وروسته منشی طلاقنامه ولیکله چی په هغه کی دری طلاقه ولیکل سوه شاهدی وسوه، دطلاق ورکوونکی ګوته لګول پاته وه چی په یو وجه ناراضه سو او فریقین جلا سوه؟

جواب: په دی صورت کی ښکاره داده چی طلاق واقع نه سوځکه چی کله خاوند طلاق نامه په خپله نه ده لیکلی په بل یی لیکلی ده، نو ترڅو چی پردی تحریر دخاوند اقرار نه وی اوهغه داسی ونه وایی چی داتحریر زما دطرفه دی طلاق واقع نه سو خوکه دپوښتنی کوونکی ښځی مطابق امر بالطلاق ثابت سی یاخاوند په خپله ددی اقرار وکړی چی ما امر بالطلاق کړیدی نودابه هم دطلاقو اقرار ګڼل کیږی اوطلاق به واقع وي، شامی دتاتارخانیه څخه نقل کړیدی چی: ولو استکتب من آخر کتابا بطلاقها وقرأه علی الزوج فأخذه الزوج وختمه وعنونه وبعث به إلیها فأتاها وقع إن أقر الزوج أنه کتابه الخ وکذا کل کتاب لم یکتبه بخطه ولم یمله بنفسه لا یقع الطلاق ما لم یقر أنه کتابه (٢) وفیه ایضا

(١) ایضا ط. س. ج٣ ص ٢٤٦. ظفیر

(٢) ردالمحتار کتاب الطلاق مطلب الطلاق بالکتابة ج٢ ص ٥٨٩ ، ط. س. ج٣ ص ٢٤٦. ظفیر

ولوقال للکاتب اکتب طلاق امراتی کان اقراراً بالطلاق (۱). فقط

دناوي وړلو څخه يې مخکې طلاق درطلاق وليکل اوخپلې ښځې ته يې وليږل نوطلاق واقع سو اوکه نه؟ سوال: (۲۳۱) زما دنابالغي لور امير بيگم نکاح دمحمد يعقوب سره ددرو کالو راهيسې سويده چې په دوه زره روپې مهر معجل سويده خوتراوسه لامحمد يعقوب معجل نه دی ادا کړی اونه ناوی تللی ده په ۹\ اکتوبر سنه ۱۹۱۹ په يو بې رنگه خط کې يې طلاق درطلاق، طلاق وليکل اوپر دی يې دخپلې گوتې نخښه ولگوله اودامير بيگم په نوم يې را وليږله نوآيا طلاق واقع سو اوکه نه؟ اودطلاق څخه مهر معجل واجب پاته دی اوکه نه؟

جواب: په دې صورت کې طلاق بائن دمحمد يعقوب پرښځه واقع سو اوچې طلاق قبل الدخول سويدی (۲) نونيم مهر دخاوند پرذمه واجب دی اوعده واجب نه ده. کما قال الله تعالیٰ: وان طلقتموهن من قبل ان تمسوهن فما لکم عليهن من عدة تعتدونها، الآيه (۳) او دارنگه ارشاد دی: وان طلقتموهن من قبل ان تمسوهن وقد فرضتم لهن فريضة فنصف مافرضتم، الآية. فقط

خاوند طلاقنامه وليکله اوپه خولې يې ونه ويل نوطلاق واقع سو اوکه نه؟ سوال: (۲۳۲) يو سړي دخپلې لور نکاح وکړه خو لا ناوی نه ده تللې چې په خپل مينځ کې جگړه وسوه ده دانجلې خاوند راوبولې چې ته طلاقنامه وليکه اوزه به په انجلې مهر معاف کم نوخاوند وويل چې ډيره ښه ده. خوخاوند په خوله څه لفظ دطلاق ونه وايه دده په مخکې طلاقنامه وليکل سوه اودمهر معافی نامه دښځې دخوا څخه وليکل سوه خواوس داسړی وايي چې ماطلاق نه دی ورکړی زما صرف مهر معاف کول مقصد وو نوپه دې صورت کې طلاق وسو اوکه نه؟

جواب: په دې صورت کې چې کله دې سړي پر طلاقنامه دستخط وکی اوپه عوض دمهر يې طلاقنامه وليکله که څه هم په خولې يې څه نه دي ويلي نو دده پرښځې طلاق واقع سو اومهرمعاف سو اوبغيردطلاق څخه به مهرمعاف نه وی ځکه چې مخکې خبره معافی دمهر په عوض دطلاقو وو، په دې بناء په اجازه دخاوند طلاقنامه وليکل سوه او معافی

---

(۱) ردالمحتار کتاب الطلاق ج۲ ص ۵۸۹. ظفير

(۲) فان قلت الکتابة من الصريح اومن الکناية قلت ان کانت علی وجه الرسم معنونة فهی صريح والا فکناية (البحر الرائق کتاب الطلاق ج۳ ص۲۷۲، ط. س. ج۳ ص۲۵۳) واذا طلق الرجل امراته ثلثا قبل الدخول وقعن عليها الخ فان فرق الطلاق بانت بالاولی ولم تقع الثانية والثالثة (هدايه فصل فی الطلاق قبل الدخول ص۳۵۱).

(۳) سورة الاحزاب ۷. ظفير

دمهر وسوه نو ددی وجه څخه طلاق واقع اومهر معاف سو [۱].

منشي ته يې وويل زما دښځې دپاره طلاق وليکه منشي وليکل بتول ته دري طلاقه نوڅه حکم دي؟ **سوال**: (۲۳۳) چا يوکاتب ته وويل زما ښځي ته طلاق وليکه کاتب دا الفاظ وليکل دجانبه دمحمد شبلي څخه: زه محمد شبلي خان ساکن دموضع جهنی پور زه خپلی ښځي بتول ته دري طلاقه ورکوم طلاق، طلاق، طلاق، نوشرعا څه حکم دي؟

جواب: په دي صورت کي دده پرښځي دري طلاقه واقع سوه بي له حلالې دابنځه داول خاوند دپاره حلاله نه ده او طريقه دحلالې داده چي داطلاقه سوي ښځه به دعدي څخه وروسته دبل سړي سره نکاح وکړي بيابه دکوروالي څخه وروسته دي طلاق ورکړي چي بيا دده عده ختمه سي نوبيا داول خاوند سره نکاح کيدی سي. کذا في کتب الفقه [۲].

ما خپلي ښځي ته طلاق ورکړيدي په دي ليکلو سره طلاق واقع سو: **سوال**: (۲۳۴) يوسړي خپله ښځه ووهله اووي ټکوله اوکالي وغيره يې ځيني واخيسته اودکورڅخه يې وايسته داسړي فوجي ملازم وو دده دښځي چي کمي روپي په فوج کي واجب وی ده دا وويل چي ماخپلي ښځي ته طلاق ورکړيدی او روپي يې په خپله واخيستي، دکمانډر تصديق ددي سره دي آيا طلاق واقع سو اوکه نه؟

جواب: په دي صورت کي ددي سړي ښځه دنکاح څخه ووته داطلاقه سوه [۳] او دتصديق دکمانډر دفوج څخه ثابته ده چي دا طلاق په ۲۷\ اګست سنه ۱۹۲۲ ليکل سوی وو ددي وجه څخه اوس نه مياشتي دطلاق وسوی عده ددي تيره سويده نو ددي ښځي ثاني نکاح کول جائز دي.

طلاق نامه يې مکمل په بل وليکله نوطلاق واقع سو اوکه نه؟ **سوال**: (۲۳۵) يوسړي چاته وويل چي طلاقنامه وليکه ده ورته وويل چي طلاق په ليکلو سره نه راځي اوپه ژبه راځي بيادي محرر طلاقنامه وليکله اودخاوند دا اعتقاد وو چي په ليکلو طلاق نه کيږي په ژبه کيږي اوپه ژبه به يې زه په فلاني شرط ورکوم بيا يې په خاوند باندي طلاق وليکی

---

(۱) واذا اضافه الی الشرط وقع عقيب الشرط (عالمگيری مصری تعليق الطلاق ج۱ ص۴۵۰، ط. ماجديه ج۱ ص۴۲۰) ولو استکتب من آخر کتابا بطلاقها او قراه علی الزوج فاخذه الزوج وختمه وعنونه الخ وقع ان اقر الزوج انه کتابه (ردالمحتار کتاب الطلاق ج۲ ص۵۸۹ ، ط. س. ج۳ ص۲۴۲). ظفير

(۲) ولو قال للکاتب اکتب طلاق امراتی کان بالطلاق وان لم يکتب (ردالمحتار کتاب الطلاق ج۲ ص۵۸۹) وان کان الطلاق ثلاثا فی الحرة لم تحل له حتی تنکح زوجا غيره نکاحا صحيحا ويدخل بها ثم يطلقها اويموت عنها (باب الرجعة ج۲ ص ۳۷۹). ظفير

(۳) وان کانت مرسومة يقع الطلاق نوی اولم ينوی الخ فلما کتب هذا يقع الطلاق وتلزمها العدة من وقت الکتابة (رد المحتار کتاب الطلاق ج۲ ص ۵۸۹ ، ط. س. ج۳ ص ۲۴۲). ظفير

اوخپله گوته یی باندی ولگوله اوطلاقنامه یی دځان سره وساتله اوښځی ته یی ونه لیږله بیاده ته وویل سو چی طلاق ورکه نوده جواب ورکی چی فلانی شرط برابر کړه بیابه زه طلاق ورکړم نوپه دی صورت کی طلاق واقع سو اوکه نه؟

جواب: مسئله داده چی طلاق په کتابت سره هم کیږی که په خپله یی ولیکی اوکه په بل په دی شرط چی ددی اقراروکړی چی دازماخط یازما لیکل سویدی اویاپه دوو شاهدانو سره داثابت سی یعنی حکم کول دکتابت ثابت سی په شامی کی دی: ولو قال للكاتب اكتب طلاق امرأتي كان إقرارا بالطلاق وإن لم يكتب ولو استكتب من آخر كتابا بطلاقها وقرأه على الزوج فأخذه الزوج وختمه وعنونه وبعث به إليها فأتاها وقع إن أقر الزوج أنه كتابه أو قال للرجل ابعث به إليها أو قال له اكتب نسخة وابعث بها إليها وإن لم يقر أنه كتابه ولم تقم بينة لكنه وصف الأمر على وجهه لا تطلق قضاء ولا ديانة وكذا كل كتاب لم يكتبه بخطه ولم يمله بنفسه لا يقع الطلاق ما لم يقر أنه كتابه اهـ شامی (۱). ددی مجموعه روایاتو څخه معلومیږی چی کله خاوند دا طلاقنامه ولیکله اودځان سره یی وساتله اوخپلی ښځی ته یی ونه لیږله اودده نیت هم اوس دطلاق ورکولو نه وو بلکی په څه شرطونو وو نوپه دی صورت کی دده ښځه طلاقه نه سوه (۲).

په غصه کی یی په بل طلاقنامه ولیکله خو دستخط یی ونه کی نوڅه حکم دی؟ سوال:

(۲۳۶) یو سړی دخپلی ښځی په یو ناجائز حرکت خفه سو ستامپ یی واخیستی او عریضه نویس ته یی وویل چی طلاقنامه ولیکه دښځی او دپلار نوم یی وښووی عریضه نویس طلاقنامه ولیکله چی په دی دوران کی دده غصه ختمه سوه اوپه طلاقنامه یی دستخط ونه کی اودایی په جیب کی واچوله اوښځی ته یی ورنکړه کور والا داواخیسته او څیري کړه نوپه دی صورت کی طلاق واقع سو اوکه نه؟

جواب: دفقه دکتابونو دعبارت څخه واضحیږی چی په دی صورت کی طلاق نه دی سوی لکه چی په شامی کی دی: ولو استكتب من آخر كتابا بطلاقها وقرأه على الزوج فأخذه الزوج وختمه وعنونه وبعث به إليها فأتاها وقع إن أقر الزوج أنه كتابه وإن لم يقر أنه كتابه ولم تقم بينة لكنه وصف الأمر على وجه لا تطلق قضاءً ولا ديانةً وكذا كل كتاب لم يكتبه بخطه ولم يمله بنفسه لا يقع الطلاق ما لم يقر أنه كتابه اهـ ملخصا (۳). فقط

---

(۱) وګوری ردالمحتار للشامی کتاب الطلاق ج۲ ص ۵۸۹ ، ط. س. ج۳ ص۲۴۲. ظفیر

(۲) واذا اضافه الی الشرط یقع عقیب الشرط اتفاقا (عالمگیری مصری تعلیق الطلاق ج۱ ص۴۵۰ ماجدیه ج۱ ص۴۲۰). ظفیر

(۳) ردالمحتار کتاب الطلاق ج۲ ص ۵۸۹، ط. س. ج۳ ص ۲۴۲) دخاکسار په خیال سره طلاق واقع سو: ولوقال للکاتب اکتب طلاق امراتی کان اقرارا بالطلاق (ایضا ط. س. ج۳ ص ۲۴۲). ظفیر

دیوه طلاق لیکلو حکم یی وکی اوهم په دی خیال ده دستخط وکی خوکاتب دری طلاقه ولیکل څه حکم دی؟ **سوال**: (۲۳۷) دزید دمور اودښځی جنګ وسو چی دهغه په وجه زید دیوطلاق په اراده سټامپ واخیستی اسټامپ لیکونکی یوهندو دی په ده زید طلاق نامه ولیکله سره ددی چی زید ده ته دلیکلو څخه مخکی داویلی وه چی زما دطرفه یو طلاق ولیکه خوده دزید دیو دښمن په سازش پرځای دیوه طلاق دری طلاقه ولیکل او زید په وجه دښه ګمان بی له ویلو پرطلاقنامه دستخط وکی دزید قسمی بیان داستفتاء سره پیوست دی نوپه دی صورت کی یوطلاق واقع سو اوکه دری طلاقه؟

جواب: په دی صورت کی موافق دبیان دزید دده پر ښځی یوطلاق واقع سو اودری واقع نه سوه نوزید خپلی ښځی ته په عده کی دننه بی دنکاح څخه رجوع کولی سی او دعدی څخه وروسته نوی نکاح بی حلاله کولی سی اوکه زید دروغ وایی اوپه حقیقت کی ده دری طلاق ورکړی وی نو ددی وبال هم پرده دی خوموافق دشریعت دزید دبیان مطابق په دی صورت کی دیو طلاق رجعی حکم به وسی، په درمختار کی دی: ویقع بها ای بهذه الالفاظ الخ واحدة رجعية الخ (۱).

پرطلاقنامه صرف په ګوته لګولو سره به طلاق وی اوکه نه؟ **سوال**: (۲۳۸) داچی نه لیکوال اونه ویونکی وی طلاق په صورت دسکوت اودعدم تلفظ وتکلم دهیڅ لفظ اودهیڅ کلام او دژبی دحرکت څخه وروسته په طلاقنامه معنونه مستبینه باندی دګوتی دنښانی په لګولو سره شرعًا به طلاق واقع وی اوکه نه؟ لکه چی په نن زمانه کی رواج دی چی بی لیکه (ناخوانده) دهر لیکلو په وخت ګوته لګوی دارنګه که په تعلیقی طلاقنامه یاپه مطلق طلاقنامه ګوته ده نه ولګول نوپه دی صورت کی به دده طلاق واقع وی اوکه نه؟ اوپه دی تحریری طلاق کی دده تلفظ اوتکلم ضروری دی اوکه نه؟ چی چپ پاته وی اوپه ګوته لګولو سره هم طلاق واقع کیږی اوکه نه؟

جواب: په کتابونو دفقه کی دمختلفو تصریحاتو اوروایاتو څخه ښکاره کیږی چی که څه هم دوقوع دطلاق دپاره تلفظ په الفاظو دطلاقو ضروری نه دی خو اقرار دالفاظو کول یعنی داسی ویل چی بی شکه په دی تحریرکی چي څه لیکل سویدی زما دی یا ددی سره نژدی نژدی بل لفظ ویل ضروری دی بغیر داقرار او داعتراف څخه صرف مهر یا ګوته لګول کافی نه دی. في العالمكيرية: رجل استكتب من رجل آخر إلى امرأته كتابا بطلاقها وقرأه على الزوج فأخذه وطواه وختم وكتب في عنوانه الخ ان أقر الزوج أنه كتابه فإن الطلاق يقع عليها وكذلک لو

---

(۱) الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب الصریح ج۲ ص ۵۹۰ – ۵۹۲، ط. س. ج۳ ص ۲۴۸. ظفیر

قال الرجل ابعث بهذا الكتاب الخ وإن لم يقر أنه كتابه لكنه وصف الأمر على وجه فإنه لا يلزمه الطلاق الخ ([1]) وفی الشامی نقلا عن التتار خانية ولوقال للكاتب اكتب طلاق امراتی كان اقرارا بالطلاق وفيه ايضا ولو استكتب من آخر الخ وقع ان اقر الزوج انه كتابه ([2]) ص ٤٢٩. فقط

په زورچې څوک دخاوند څخه پرطلاق نامه ګوته ولګوي نو په دې سره به طلاق نه وي سوی:

سوال: (۲۳۹) دزید خپلې ښځې ته دطلاق ورکولو اراده بالکل نه وه په زور دده څخه پر طلاقنامه ګوته ولګول سوه په دې صورت کې دزید ښځه طلاقه سوه او که نه؟

جواب: په زور سره دخاوند څخه پرطلاق نامه په ګوته لګولو سره طلاق نه کېږي: قال فی الدرالمختار فلو اکره علی ان یکتب طلاق امراته فکتب لاتطلق لان الکتابة اقیمت مقام العبارة باعتبار الحاجة ولاحاجة هنا کذا فی الخانیة الخ ([3]). فقط والله اعلم

خسرته یې ولیکل چې په وخت دطلاق دلور تا وعده کړې وه نو په دې سره طلاق واقع سو او که نه؟ سوال: (۲۴۰) عمر خپل خسر زیدته ددې مضمون نوټس ولیږی چې پرتازما شپږ سوه روپې واجب دي اوپه دې کې تادوه سوه روپې خوزما دښځې یعنې دخپلې لور دطلاق اخیستو په وخت په مهرکې لیرې کړې ددې څخه وروسته دوهم کارږ ده په طریقه دنوټس په دې مضمون ولیږی چې تاپه وخت دطلاق دخپلې لور په مقام داجمیر کې دشاهدانو په مخکې وعده کړې وه الخ نوپه دې صورت کې دعمر پرښځې خالده طلاق واقع سو او که نه؟ په صورت دطلاقیدو دخاوند څخه ترکمه پورې دنان او نفقې حقداره ده داښځه؟

جواب: په دې صورت کې پرخالده باندې طلاق واقع سو دعمر داقرار موافق ([4]) اونفقه دعدې دخاوند په ذمه واجب ده ([5]).

خاوند وویل ته ولیکه زه به دستخط وکم وروسته یې پرطلاقنامه دستخط ونه کې نوطلاق واقع سو او که نه؟ سوال: (۲۴۱) دښځې او دخاوند په مینځ کې جګړه وسوه دښځې پلار ښځې ته وویل چې ددې جګړې څخه ښه داده چې فارغ خطي دطلاق ولیکي خاص خلګ

([1]) عالمگیری مصری فصل سادس فی الطلاق بالکتابة ج۱ ص ۴۰۴ ماجدیه ج۱ ص ۳۷۹. ظفیر

([2]) ردالمحتار کتاب الطلاق ج۲ ص ۵۸۹ مطلب الطلاق بالکتابة ط. س. ج۳ ص ۲۴۶. ظفیر

([3]) ردالمحتار کتاب الطلاق ج۲ ص۵۸۹ ، ط. س. ج۳ ص ۲۳۶، دارنګه وګوره فتاوٰی قاضی خان علی هامش عالمګیری فتاوٰی مصرف الطلاق بالکتابة ج۱ ص ۴۴۱ ماجدیه ج۱ ص ۴۷۲. ظفیر

([4]) وکذا لو اقر بالطلاق کاذبا اوهاذلا وقع قضاءً لادیانةً (ردالمحتار کتاب الطلاق ج۲ ص۵۸۹) او که ده صحیح خبر ورکړی وی نوطلاق قضاءً اودیانة په دواړو طریقو سره واقع کیږی والله اعلم. ظفیر

([5]) وتجب المطلقة الرجعی والبائن النفقة والسکنی والکسوة (درمختار) کان علیه ابدال المطلقة بالمعتدة لان النفقة تابعة للعدة (ردالمحتار باب النفقة مطلب فی نفقة المطلقة ج۲ ص ۹۲۱. ط. س. ج۳ ص ۲۰۹). ظفیر

راجمع سوه او حاضرينو دخاوند څخه پوښتنه وکړه چي طلاقنامه وليکل سی؟ خاوند وويل ته يې وليکه زه دستخط باندی وکم دليکلو څخه وروسته خاوند پر طلاقنامه دستخط ونه کی په دی صورت کی طلاق واقع سو اوکه نه؟
جواب: په دی صورت کی ښکاره داده چي طلاق نه دی واقع ځکه چي نه خوبيي په خپله طلاقنامه ليکلی ده اونه يې دبل په ليك دا اقرار کړيدی چي دازما دطرفه ده حال دادی چي په کتابونو دفقه کی تصريح ده چي دتحرير دطلاقو دواقع کيدو ددی څخه علاوه بل تصور نسته چي خاوند يې ياپه خپله وليکی اويا دبل ليك ځان ته منسوب کړی اوداسی ووايي چي بی شکه داليکل زما دطرف څخه دی دبل پرليك صرف دستخط هم بی له اقراره وهم راولی خوصرف په وهم پيدا کيدو قطعي حکم دشرع نه سی ثابتيدی داالفاظ ښيي چي دخاوند لاقصد دالفاظو نسته خپل قصد اواقرار پرراتلونکی وخت پريږدی نو چي کله دخاوند ليك هم نسته اودبل په ليك يی اقرار هم نسته دليك څخه مخکی داسی قطعي الفاظ هم نسته چي داقرار قائم مقام سی نوبيا دا موهم لفظ دطلاق دپاره نه سی کافی کيدی: وکذالك کل کتاب لم يکتبه بخطه ولم يمله بنفسه لايقع به الطلاق اذا لم يقر انه کتابه کذا فی المحيط، فتاوٰی عالمگيری (١). فقط
__مورته يي وليکل که يي زور وکی نو ووايه چي زمور هلک طلاق ورکړيدی څه حکم دی؟__
سوال: (١۴٢) زيد دخپلی ښځی په باره کی دا الفاظ خپل پلار ته وليکل اووی ليږل که دمحلّهٔ دهليز څخه يوډول فشار راسی نوصفا ووايه چي زموږ هلك طلاق ورکړی دی ددی سره زموږ هيڅ واسطه نسته دزيد مور اوپلار داحصه ددغه خط هندی ته ددی دمور اوپلار کره وليږله او دبی تعلقی خبره يی ورته وويله هنده دلسو کالو راهيسی دمور او پلار کره ده آيا هنده په داسی صورت کی دوهمه نکاح کولی سی اوکه نه؟
جواب: په دی صورت کی دزيد ښځه طلاقه سوه اودعدی څخه وروسته (چي دری حيضه دی) ښځه دوهمه نکاح کولی سی اوچي کله دطلاقو يونيم کال سويدی (٢) نوکه پر ښځی دری حيضه راغلی وی نو سمدستی ددی دوهمه نکاح کول جائز دی. فقط
__دفلانی لورته يي طلاق ليکلی دی نوهم طلاق واقع سو__: **سوال**: (٢۴٣) زما ددوو لوڼو نکاح دخراتی خان ددوو زامنو سره سوی وه چي څلور پنځه کاله وسوه چي اوس دغه هلکانو

---

(١) عالمگيری مصری فصل فی الطلاق بالکتابة ج١ ص ۴٠۵ ماجديه ج١ ص ٣٧٩. ظفير
(٢) وإن کانت مستبينة لکنها غير مرسومة إن نوی الطلاق يقع وإلا فلا وإن کانت مرسومة يقع الطلاق نوی أو لم ينو ثم المرسومة لا تخلو أما إن أرسل الطلاق بأن کتب أما بعد فأنت طالق فکلما کتب هذا يقع الطلاق وتلزمها العدة من وقت الکتابة (عالمگيری مصری فصل سادس فی الطلاق بالکتابة ج١ ص ۴٠٣ ماجدية ج١ ص ٣٧٨). ظفير

په وجه دخفګان په رجسټر سوی خط کی لیکلی طلاقنامه رالیږلی ده اودانجونو نومونه یی نه دی لیکلی دفلانی لور یی لیکلی ده که طلاق سوی وی نو ددرو میاشتو نفقه پر دوی واجب ده اوکه نه؟

جواب: په دی صورت کی پردوی دواړو طلاق واقع سو (۱) اودعدی څخه وروسته دبل چا سره نکاح کولی سی او دعدی نفقه دخاوند پر ذمه واجب ده (۲).

طلاق نامه یی په بل ولیکله اوګوته یی باندی ولګوله چی ددی دوه شاهدان هم سته نوطلاق واقع سو: **سوال**: (۲۴۴) زید څلور کاله مخکی دهندی سره نکاح وکړه خو دنان اونفقي څخه پټیدی نو تراوسه پوری هنده دمجبوری په حالت کی دپلار کره ده دزید څخه یی ډیره مطالبه دنان او دنفقي وکړه خوزید هیڅ خیال ونه کی په زیات اصرار سره زید یوه ورځ طلاقنامه دبل په لاس ولیکله اوخپله یی دګوتی نښانه ولګوله اودیو سړی په ذریعه یی هندی ته را ولیږله دطلاقنامې پرطرفونو څلور شاهدان دی، په دی کی دوه شاهدان او یوکاتب یعنی دری سړی دزید دطلاق ورکولو اودګوتی دلګولو تصدیق کوی اودوه شاهدان دحاشیی اوپه خپله زید دطلاق ورکولو څخه انکاری دی او طلاقنامه جعلی بولی خو دزید دګوتی نښانه هم دده ده، په دی کی لږ شبهه هم نسته په دی صورت کی طلاق واقع سو اوکه نه؟

جواب: په دی صورت کی طلاق واقع سو هکذا فی کتب الفقه (۳).

خاوند ولیکل چی لفظ دطلاق دری واره وایم اوخپله ښځه حراموم، نو څه حکم دی؟ **سوال**: (**۲۴۵**) خاوند ددی مضمون طلاق ولیکی او راوی لیږی چي زه لفظ دطلاق دری واره وایم اوخپله ښځه پرخپل ځان حراموم هغه چی کم ځای هم غواړی نکاح دی وکړی په دی کی ددوو سړیانو شاهدی هم وه نوطلاق واقع سو اوکه نه؟

جواب: په مسئوله صورت کی دری طلاقه پرښځی واقع سوه او بی له حلالې ددی نکاح

---

(۱) بخلاف ما لو ذكر اسمها أو اسم أبيها أو اسم أمها أو ولدها فقال عمرة طالق أو بنت فلان طلاق او بنت فلانة او ام فلان فقد صرحوا بأنها تطلق وأنه لو قال لم أعن امرأتي لا يصدق قضاءاً إذا كانت امرأته كما وصف (ردالمحتار باب الصريح ج۲ ص۵۹۱، ط. س. ج۳ ص ۲۴۸). ظفير

(۲) وتجب لمطلقة الرجعى والبائن النفقة والسكنٰى والكسوة (الدرالمختار على هامش ردالمحتار باب النفقة ج۲ ص۹۳۱، ط. س. ج۳ ص ۲۰۹). ظفير

(۳) ولوقال للكاتب اكتب طلاق امرأتي كان اقراراً بالطلاق وان لم يكتب ولو استكتب من آخر كتابا بطلاقها وقرأه الزوج فاخذه الزوج وختمه وعنونه الخ وقع ان اقر الزوج انه كتابه (ردالمحتار كتاب الطلاق ج۲ ص**۵۸۹** ط. س. ج۳ ص۲۴۲) ونصابها من الحقوق ما لاً كان اوغيره كنكاح وطلاق الخ رجلان الخ او رجل وامراتان (الدر المختار على هامش ردالمحتار كتاب الشهادات ج۴ ص **۵۱۵** ، ط. س. ج**۵** ص **۴۲۵**. ظفير

صحیح نه ده هکذا یفهم من کتب الفقه. فقط

دریم باب: طلاقِ صریح

(یعني هغه الفاظ چې په هغو سره بې له نیته طلاق واقع کیږي)

چې بې له اضافت څخه طلاق ورکړي نوهم واقع کیږي: **سوال**: (۲۴۶) زید دخسر سره دجنګ په وخت کې وویل یو طلاق مې ورکی بې له خطاب اواشارې څخه خو دزید ښځه په دې مجلس کې ناسته وه نه یې دهغې او نه یې دهغې دپلار نوم په خوله راوړی په دې صورت کې له نیته پرته دزید طلاق پرښځه واقع کیږي اوکه نه؟ که زید په مجلس کې داسې الفاظ ووایي چې دهغو حاصل داوی (زه دعمر دلور څخه بیل سوم) دا الفاظ دکنایاتو څخه دي اوکه نه؟ او طلاق په دې الفاظو سره واقع کیږي اوکه نه؟

جواب: اقول وبالله التوفیق قال فی ردالمحتار ولایلزم کون الاضافة صریحة فی کلامه کما فی البحر لوقال طالق فقیل له من عنیت فقال امراتی طلقت امراته الخ ثم قال ویؤیده ما فی البحر لو قال امراة طلاق الخ وقال لم اعن امرأتی یصدق او ویفهم من انه لولم یقل ذلك تطلق امراته الخ انما یحلف بطلاقها لا بطلاق غیرها [۱] الخ جلد ۲، نو کله چې زید دا ونه ویل چې ددې لفظ دطلاق څخه مې دخپلې ښځې طلاق ورکول مراد نه وو نو دده ښځه طلاقه سوه په دوو طلاقو اوکله چې یې ددې څخه وروسته په همدغه یاپه بل مجلس کې نور کلمات وویل چې دهغو ترجمه داده: چې زه دعمر دلور څخه بیل سوم په دې لفظ سره یوطلاق بائن دده پرښځه واقع سو اودا ښځه په درو طلاقو طلاقه سوه لان البائن یلحق الصریح کذا فی الدرالمختار [۲] او ددې وروستني کلام څخه داهم معلومیږي چې په اول کلام سره یې مراد دخپلې ښځې طلاق وو نو دوهمه نکاح ددې ښځې سره بې له حلالې ده ته جائزه نه ده.

دښځې نوم یې ولیکی او تلاک تلاک تلاک یې وویل نو څه حکم دی؟ **سوال**: (۲۴۷) زید عمرته دا الفاظ ولیکل رسولې ښځې ته تلاك تلاك تلاك، او رسوله دزید ښځه ده په دې صورت کې طلاق په وکالت دعمر واقع کیږی اوکه څنګه؟ عمر طلاق ورکول رد کړي دي نو طلاق واقع سو اوکه نه؟ بینوا وتؤجروا!

جواب: په دې صورت کې دزید پرښځه درې طلاقه واقع سوه او دعمر وکالت په دې کې نسته او دعمر په ردکولو طلاق نه ردیږي په الدرالمختارکې دي: ویقع بهذه الالفاظ وما

[۱] رد المحتار للشامی باب الصریح ج۲ ص ۵۹۰. ط. س. ج۳ ص ۲۴۸. ظفیر

[۲] الصریح یلحق الصریح وملحق البائن بشرط العدة الخ (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب الکنایات ج۲ ص ۷۴۵. ط. س. ج۳ ص۳۰۶) ظفیر

بمعناها من الصريح ويدخل نحو طلاغ وتلاغ و طلاق وتلاك الخ (۱).

دچاپه ورته ويلو سره يی وويل طلاق دادم او په معنی يی نه پوهيدی نوځه حکم دی؟ سوال:

(۲۴۸) زيد په عمر باندي داسي وويل چی خپلي ښځي ته طلاق دادم او عمر په طلاق دادم باندي نه پوهيدی نو دعمر ښځه طلاقه سوه اوکه نه؟ ۲. دزيد زوجه دزيد والده ډيره زهيروي او په پوه کولو باندي لاري ته نه راځي نو آيا زيد دې ته طلاق ورکړي اوکه نه؟

جواب: (۱) صرف په طلاق دادم سره طلاق نه واقع کيږي.

جواب: (۲) په دي صورت کي دزيد پرذمه طلاق ورکول لازم نه دی اول خودي ښځه وپوهوي چي هغه دده دمور اطاعت وکړي که يي نه مني نوبيا دي په جلا کور کي وساتي.

بائن طلاق يی ورکی اوبی نکاح ورسره اوسيدی په دي زمانه کی طلاق نه دی واقع سوی:

سوال: (۲۴۹) يوه سړي خپلي ښځي ته يو بائن طلاق ورکی بي له عقد څخه يي په خپل کور کي ورسره شپي تيرولي دعدی دتيريدو څخه وروسته يي يو بل طلاق ورکی ددي څخه وروسته يي ورسره نکاح وکړه. او بيا يي يوطلاق ورکی نو په دي صورت کي دده پرښځی دری طلاقه واقع سوه اوکه نه؟

جواب: په دي صورت کی پرښځی باندي دری طلاقه نه دي واقع سوي ځکه چی دوهم طلاق چي دعدی څخه وروسته يي ورکړی دی هغه نه دی واقع سوی: فی الدرالمختار کتاب الطلاق ومحله المنکوحة وفی الشامي ولو معتدة عن طلاق رجعی اوبائن (۲) وفی اٰخر الکنايات واما المعتدة للوطؤ فلا يلحقها (۳) وتفصيل المسئلة فی الشامی (۴).

زما له لوری هغې ته طلاق دی زه ابادول نه غواړم طلاق واقع سو اوکه نه؟ سوال: (۲۵۰) يوه انجلی چي دهغې عمر شپاړس کاله دی دهغي ميړه ورك دی دانجلی دخبرو څخه معلومه سوه چي کم وخت زه ده پريښوولم نوده ماته ويلي وه چي زه تا په خپل کور کي ابادول نه غواړم او زما دطرفه هغې ته طلاق دی نو په دي صورت کي دانجلی بله نکاح صحيح ده

(۱) ايضا باب الصريح ج ۲ ص ۴۹۱. ط. س. ج ۳ ص ۲۴۹. ظفير

(۲) ردالمحتار کتاب الطلاق ج ۲ ص ۵۷۴. ط. س. ج ۳ ص ۲۳۰. ظفير

(۳) الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب الکنايات ج ۲ ص ۷۵۲. ط. س. ج ۳ ص ۳۱۲. ظفير

(۴) مثالها لو طلقها بائنا اوخالعها ثم بعد مضی حيضتين من عدتها مثلا وطئها عالما بالحرمة فلزمها عدة ثانية وتداخلتا فاذا حاضت الثالثه فهی منهما ولزمها حيضتان ايضا لاکمال الثانية فلو طلق فی الحيضتين الاخيرتين لايقع لانها عدة وطی لاطلاق افاده فی الذخيرة (ردالمحتار باب الکنايات ج۲ ص۷۵۲. ط. س. ج۳ ص ۳۱۴). ظفير

او که نه؟

جواب: پردي انجلی طلاق واقع دی دعدی څخه وروسته دابله نکاح کولای سي او دعدی شمیر به له هغه وخت څخه وي چي دي ته ددي میړه دا ذکر سوي الفاظ ویلي وه.

دمرتد کیدو څخه وروسته چی ښځی ته دری طلاقه ورکړی نو هغه نه واقع کیږی: **سوال**: (۲۵۱) یوسړی مرتدسو دارتداده څخه وروسته یي ښځي ته دری طلاقه ورکړه نو داطلاق واقع سو او که نه؟ او که دتجدید داسلام څخه وروسته ښځه ساتي نو بي له حلالي يي ساتلای سي اوکه نه؟

جواب: په مرتد کیدو سره نکاح سمدستي فسخ سوه ددی څخه وروسته چي دي مرتد خپلي ښځي ته دتجدید داسلام څخه مخکني دری طلاقه ورکړي دي هغه واقع نه سوه نو که ددي طلاق ورکولو وروسته میړه اسلام تازه کړي او ددي مطلقي سره نکاح کول غواړي بي له حلالي نکاح کولای سي کما فی الدرالمختار وارتداد احدهما فسخ عاجل فلاينقض عدداً الخ (۱).

ښځه وایي دری طلاقه وه او میړه وایي چی یو وو څه حکم دی؟ **سوال**: (۲۵۲) زید خپلي ښځي هندي ته طلاق ورکی او بیا یوځای ولاړی ترپوښتل کیدو وروسته هندي بیان وکی چي ماته یي په یوه وخت کي دری طلاقه راکړي دي چي کله زید وروسته راغی نوبیان يي وکی چي ما یوطلاق ورکړی دی نوپه دي صورت کي څه حکم دی؟

جواب: چي زید ددریو طلاقو څخه منکردی او دښځي سره ددریو طلاقو شاهدان نسته نو دزید قول په دی باره کي معتبر دی اویو رجعي طلاق ثابت دی اوپه عده کي دننه زید خپلي ښځی ته رجوع کولای سي. (۲)

دښځی په اړه يی وویل چی که می ددی دلاس ډوډی وخوړه نوزما پرمور اوخور طلاق:

سوال: (۲۵۳) یوه سړی په غصه کي خپلي ښځي ته داسي وویل چي که مي ستا دلاس ډوډی وخوړله نو زما پرمور اوخور به طلاق وي اوبیا یي دری څلور ورځي وروسته وویل چي زما مور او خور ده اوبیا یي یووار په ژبه دطلاق ورکولو لفظ ووایه نورڅه یي ونه ویل نو په دي صورت کي طلاق واقع سو اوکه نه؟ که څه جواز دښځي دساتلو وي نو بیان یي کړئ؟

جواب: اولي دوی جملي خو لغوه دي په هغو سره طلاق نه دی واقع سوی خوبیا چي یي

---

(۱) الدر المختار علی هامش ردالحتار باب نکاح الکافر ج۲ ص ۵۳۹. ط. س. ج ۳ ص ۱۹۳. ظفیر

(۲) اذا طلق الرجل امراته تطليقة رجعية او تطليقتين فله ان يراجعها فی عدتها رضيت بذلك اولم ترض لقوله تعالی: فامسكوهن بمعروف، الآیة من غیر فصل هدایه باب الرجعة ج۲ ص۳۷۴. ظفیر

کم لفظ دطلاق ښځي ته په مخاطب کولو یاښځي ته په غصه کي دژبي څخه ایستلی دی نو په هغه سره یوطلاق واقع سو (۱) خوصرف په یو وار طلاق ورکولو سره طلاق رجعي واقع کیږي او په رجعي طلاق کي په عده کي رجوع کول بي له نکاح صحیح نه دي. (۲)

طلاق ورکړی دی، په دې ویلو سره طلاق واقع سو: سوال: (۲۵۴) یوه سړي خپله ښځه ووهله اوهغه دپلار کره ولاړه خلګو وویل داستا ښځه ده ته دا راوغواړه په جواب کي میړه وویل چي که زموږ ښځه وای راغوښتي به مو وای خو چي کله دکور څخه ووتله نوزموږ دساتلو قابله نه ده او ددي څخه مخکي یوه ورځ میړه وویل موږ طلاق ورکوو نوطلاق واقع سو اوکه نه؟ اوښځه دوهمه نکاح کولای سي اوکه نه؟

جواب: که میړه دا الفاظ هم ویلي وي چي موږ طلاق ورکوو نوطلاق پردغه ښځه واقع سو اودعدي څخه وروسته دبل سړي سره نکاح کولای سی. (۳)

میړه وایي ما وویل چي طلاق می ورکی اوشاهد وایي چي لفظ د(ورکړی) یي دری واره وویلی په دی صورت کی څه حکم دی؟ سوال: (۲۵۵) دخالد ښځه دزید لور دخپل مور اوپلار کره ولاړه زید دوه سړي درابللو دپاره وروليږل خو خواښي ورسره راونه لیږله اٰخر خالد په خپله پسي ولاړی خو خواښي یې بیا هم دلیږلو څخه انکار وکی اوسختي خبري یي ورته وکړي خالد په غصه سو او ویي ویل چي دزید لور جمال النساء ته مي طلاق ورکی دبعضو شاهدانو په بیان کي دا الفاظ دي چي دزید لور جمال النساء ته مي طلاق ورکړی ورکړی ورکړی یعني لفظ دورکړی دری ځله ذکر دی نو په دي صورت کي دزید پرلور او دخالد پرښځه څو طلاقونه واقع کیږي؟

جواب: دمیړه په بیان کي صرف دیوځل (طلاق ورکړی) لفظ ذکر دی اوباقي بیانات مختلف دی او شاهدي مخدوشه ده (۴) اوپه ځینو بیانونو کي چي د (ورکړی) لفظ مکرر

---

(۱) ولا یلزم کون الاضافة صریحة فی کلامه لما فی البحر لوقال طالق فقال من عنیت فقال امراتی طلقت امرته (ردالمحتار باب الصریح ج۲ ص ۵۹۰. ط. س. ج۳ ص ۲۴۸). ظفیر

(۲) اذا طلق الرجل امراته تطلیقة رجعیة او تطلیقتین فله ان یراجعها فی عدتها رضیت بذلك اولم ترض لقوله تعالی: فامسکوهن بمعروف من غیر فصل (هدایه باب الرجعة ج ۷ ص ۳۷۴). ظفیر

(۳) لان المضارع حقیقة فی الحال مجاز فی الاستقبال کما هو احد المذاهب وقیل بالقلب وقیل مشترك بینهما وعلی الاشتراك یرجع هنا ارادة الحال بقرینة کونه اخبارا عن امر قائم فی الحال وذلك ممکن فی الاختیار (ردالمحتار باب تفویض الطلاق ج۲ ص۷۵۷. ط. س. ج۳ ص۳۱۹). ظفیر

(۴) وکذا تجب مطابقة الشهادتین لفظا ومعنی بطریق الوضع (درمختار) قوله بطریق الوضع ای بمعناه المطابقي وهذا جعله الزیلعی تفسیرا للموافقة الخ (ردالمحتار باب الاختلاف فی الشهادة ج۴ ص۵۳۹. ط. س. ج ۵ ص۴۹۳). ظفیر

دی هغه په تاکید هم کیدی سي که يي خالد مدعي وی ځکه نو دخالد پرښځه يو رجعي طلاق موافق دبيان دسائل واقع سوی دی دهغه حکم دادی چي په عده کي دننه رجوع بی له نکاح څخه جائزه ده او وروسته دعدی څخه په نوي نکاح سره رجوع کيدای سي (١).

که په طلاق نامه کی دفارغ خطی لفظ نه وی هم طلاق واقع کيږی: سوال: (۲۵۶) شفيع محمد خپلي ښځي ته طلاق ورکی طلاق نامه يي وليکله اوپه طلاقنامه کي دفارغ خطي لفظ وليکی نو په دي صورت کي داطلاق واقع سو اوکه نه؟

جواب: په دي صورت کي دشفيع محمد پرښځی بائن طلاق واقع سو په شامي کي دي: ولو قال للکاتب اکتب طلاق امراتی کان اقراراً بالطلاق وان لم يکتب ولو استکتب من اٰخر کتابا بطلاقها وقرأه علی الزوج فاخذه الزوج وختمه وعنونه وبعث به اليها فاتاها وقع ان اقر الزوج انه کتابه الخ شامي (٢) ص۴۲۹ جلد ثاني. فقط

په دوو کي يي ديوی ښځي سره جنګ وسو ده وويل (طلقتک ثلاثة) نوځه حکم دی؟ سوال: (۲۵۷) رجل تنازع هی احدی امراته وقال يا طلقتك ثلاثة ولم تکن امراته حاضرة عنده ايضا او قال طلقت منکوحة طلاقا ثلاثا ثم قيل له من عنيت فقال لم اعن امراتي وله امراتان هل يقع عليهما اوعلی احدهما؟

الجواب: فی هذه الصورة تطلق امراته التي تنازع معها لانه قال بحرف النداء يا طلقتك ثلاثا فالمنادي هی المتنازعة وان لم تکن موجودة حاضرة فانه لا اثر لعدم حضور المراة اوقال طلقت منکوحة طلاقا ثلاثا فقوله منکوحة وان کان شاملا لامراتين لکن التنازع قرينة علی ان المراد هی المتنازعة فتطلق طلاقا مغلظا ولم يصدق قوله لانه صرح بحرف النداء وکاف الخطاب او بقوله منکوحة يصدق قوله لم اعن امراته وقد قال الشامي ولا يلزم کون الاضافة صريحة فی کلامه الخ (٣).

دمهر دبخښنی څخه وروسته طلاق ورکوم، په دې ليکلو سره کم طلاق واقع کيږی؟ سوال: (۲۵۸) دزيد دانجلي منکوحي سره جنګ وسو ښځي دميږه څخه بيليدل وغوښتل زيد سمدستي څلور سړي راوبلل او خپلي ښځي ته يي وويل چي خپل مهر معاف کړه چي زه طلاق درکړم ښځي جواب ورکی چي په عوض دمهر کي ته دواړه بچيان ماته راکړه زه به مهر معاف کړم زيد يوتحرير دبچيانو څخه دتعلق پريکولو ورکړی ښځي دمهر دبخښنی

---

(١) اذا طلق الرجل امراته تطليقة رجعية اوتطليقتين فله ان يراجعها فی عدتها رضيت بذلك اولم ترض (هدايه باب الرجعة ج۲ ص ۳۷۴). ظفير

(٢) ردالمحتار کتاب الطلاق مطلب فی الطلاق بالکتابة ج۲ ص ۵۸۹. ط. س. ج ۳ ص ۲۴۶. ظفير

(٣) وګوری ردالمحتار للشامي باب الصريح ج ۲ ص ۵۹۰. ط. س. ج ۳ ص ۲۴۸. ظفير

یولیك ولیکی چي زه قطعي جدا کیدل غواړم نو دا الفاظ یي ولیکل چي زه خپلی منکوحی ښځي ته طلاق ورکوم نو په دي صورت کي به کم طلاق واقع وي اورجوع صحیح ده اوکه نه؟

جواب: په دي صورت کي بائن طلاق واقع سو (۱) اورجوع صحیح نه ده خو نکاح بي له حلالي تازه کیدای سي (۲).

په ژبه یي وویل طلاق مي ورکی نوڅه حکم دی؟ **سوال**: (۲۵۹)یوه ورځ مي دماپښین سنت وکړه نوڅه وسوسه مي په زړه کي راغله اودا لفظ مي دژبي څخه ووتی چي طلاق مي ورکړی. وروسته مي فکر وکی او ډیر پریشانه سوم چي اوس به وا ده نه سم کولای نو په دي صورت کي څه حکم دی؟

جواب: صرف په طلاق مي ورکړی ویلوسره طلاق نه واقع کیږي خصوصا په هغه صورت کی چي ویونکی ښځه هم نه لري اوکه په پوښتل سوي صورت کي ښځه وي هم نوطلاق واقع نه دی او ښځه که یي نه وي نو واده بي شکه کولای سي.

پوښتنه وسوه طلاق دي ورکړی په جواب کی وویل هم داسي وګڼئ! نو څه حکم دی؟ **سوال**: (۲۶۰) دزید او دهغه دښځي خفګان راغی او ښځه دمور کره ولاړه دزید دافکر وو چي دطلاق ورکولو دپاره په لفظ دطلاق ادا کولو سره طلاق واقع کیږي په بل سي نه واقع کیږي زید په اردو کي داسي الفاظ استعمال کړل چي دهغو څخه اوریدونکو ته دطلاق ورکولو شبه پیدا سوه دده څخه پوښتنه وسوه چي تاخپلي ښځي ته طلاق ورکړی دی؟ ویي ویل: هم داسي یي وګڼی بیا څه پوښتنه کوی، څه موده وروسته یي دښځي قریبانو ته وویل: چي هغه دي دخپلي مور کره اوسیږي اوپر ماچي ددي دمهر څومره حق دی هغه زه اداء کوم دادي زما ګیڼي راکړي خوبیا دامعامله پوره نه سوه اوس دشپږو میاشتو تیریدو څخه وروسته دښځي او دمیړه په مینځ کي اتفاق راغی نو چي شرعا په دي صورت کي څه حکم وي هغه ولیکی، په ډیره درناوي.

جواب: په دي صورت کي دزید په هغه الفاظو چي کم داوریدونکو دسوال په جواب کی دی چي تاخپلي بي بي ته طلاق ورکی اوده وویل (هم داسي یي وګڼی) دده پرښځه یوطلاق

---

(۱) وبالطلاق الصریح علی مال طلاق بائن (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب الخلع ج۲ ص ۷۷۵. ط. س. ج ۳ ص ۴۴۴. ظفیر

(۲) وینکح مبائنته بدون الثلاث فی العدة وبعدها بالاجماع ومنع غیره فیها لاشتباه النسب (درمختار) قوله بالاجماع راجع الی قوله فی العدة وهو جواب عن سوال هو ان قوله تعالی: ولا تعزموا عقدة النکاح حتی یبلغ الکتاب اجله، یعنی انقضاء العدة عام فکیف جاز للزوج تزوجها فی العدة والنص بعمومه والجواب انه خص منه العدة من الزوج نفسه بالاجماع (ردالمحتار باب الرجعة ج۲ ص ۷۳۸. ط. س. ج۳ ص ۴۰۹). ظفیر

واقع سو [۱] او چي دخلعي کيسه پوره نه سوه نو داطلاق بائن نه سو بلکي داطلاق رجعي دی او په عده کي دننه رجوع صحيح ده او دعدی څخه وروسته نوي نکاح ته ضرورت سته [۲].

دزور په وجه چي بي له اضافته دا ووايي چي طلاق دی نو طلاق به وي اوکه نه؟ **سوال:**
(۲۲۱) په زيد باندي دده خسرګنی دده ښځي ته په زور طلاق اچول غوښتل زيد مجبور ودريدی او صرف لفظ دطلاق دی طلاق دی طلاق دی يي وويل نه خو يي دهندي نوم واخيستی اونه يي دا وويل چي ما طلاق ورکړی دی او نه ده طلاق ورکول غوښتل نو په دي صورت کي به يو طلاق وي اوکه دري؟ مور اوريدلي دي چي که په يووار کی دری طلاقه هم ورکړی نو يوطلاق واقع کيږي داخبره ترکمه ځايه صحيح ده؟
جواب: داخو غلطه ده چي په يووار زر واره طلاق ورکړي هم يو طلاق به وي بلکه که په يوه مجلس کي په يوه وار سړي خپلي ښځي ته دری طلاقه ورکړه نو دده پرښځی به دری طلاقه واقع وي خو دلته په ذکر سوي صورت کي دطلاق دنه کيدو بله وجه ده هغه داچي ده دطلاق نسبت اواضافت خپلي ښځي ته نه دی کړی اونه يي ددي نوم اخيستی دی او نه يي اشاره کړي ده او دده نيت هم ښځي ته دطلاق ورکولو نه وو نو ددي وجهي څخه په دي صورت کي دده پرښځی طلاق نه واقع کيږي. [۳]

وايي چي که دفلاني سره واده کوي نو طلاق صحيح کني نه دی، نوڅه حکم دی؟ **سوال:**
(۲۲۲) عزيز الله ولد محمد خپلی ښځي ته په دي شرط طلاق ورکی چي که دي ښځي دعلي سره واده وکی نو زما طلاق به صحيح او واجب العمل وي اوکه يي دبل چاسره په خپله يا دوالدينو په توسط وکی نوزما طلاق به غير صحيح او ناواجب العمل وي په دي صورت کي شرعا څه حکم دی؟
جواب: په دي صورت کي دعزيز الله پرښځی طلاق واقع سو اودا شرط لغوه دی چي هغه دي دعلي نومي شخص سره واده وکړي او دبل چا سره دي نه کوي بلکي دطلاق څخه

---

(۱) ولو قيل له طلقت امراتك فقال نعم او بلی بالهجاء طلقت واحدة رجعية (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب الصريح ج۲ ص ۵۹۲. ط. س. ج ۳ ص ۲۴۹). ظفير
(۲) اذا اطلق الرجل امراته تطليقة رجعية او تطليقتين فله ان يراجعها فی عدتها رضيت بذلك اولم ترض الخ (هدايه باب الرجعة ج۲ ص۳۷۴) دعدی دتيريدو څخه وروسته به ښځه بائنه وی نو جديد نکاح به پکار وی. ظ
(۳) صريحه ما لم يستعمل الا فيه کطلقتك وانت طالق ومطلقة قيد بخطابها لانه لو قال ان خرجت ينفع الطلاق او لا تخرجی الاباذنی فانی حلفت بالطلاق فخرجت لم يقع لترکه الاضافة اليها (درمختار) ای المعنوية فانها الشرط والخطاب من الاضافة وکذا الاشارة نحو هذه طالق وکذا نحو امراتي طالق وزينب طالق (رد المحتار باب الصريح ج۲ ص ۵۹۰. ط. س. ۳۰ ص ۲۴۷). ظفير

وروسته نوموړي ته اختيار دی چي دهر چا سره غواړي واده دي وکړي په درمختار کي دي: وما يصح ولا يبطل بالشرط الفاسد الخ والنكاح والطلاق والخلع الخ قال فى الشامي قوله والطلاق كطلقتك على ان لا تتزوجى غيرى بحر. والظاهر انه اذا قال ان لم تتزوجي غيري فكذلك وياتي بيانه الخ ص۲۲۹ جلد رابع شامي (١) باب المتفرقات وفى اول باب التعليق سئل عمن قال لزوجته انت طالق ان لم تتزوجي بفلان فاجاب لاخفاء فى ان مراد الزوج بهذا التعليق انما هو عدم تزوجها بفلان بعد زوال سلطانه عنها بانفصال العصمة والقضاء العدة وهى حينئذ في غير ملكه فيكون لغوا فيلغو الشرط ويبقى قوله انت طالق فتطلق منجزاً الخ ص۴۹۴ شامي جلد ثاني باب التعليق. (٢)

مېړه وويل: دتللو په ورځ مي طلاق ورکړی وو، اوس به عدت دځه وخته شمېرل کېږي:

سوال: (۲۲۳) يوه سړي ديوي ښځي سره په دي معاهده نکاح وکړه چي که مي تاته طلاق درکی نو پنځوس روپۍ به په جرمانه کي درکوم بيا ده دبلي ښځي سره نکاح وکړه او ددوهمي ښځي سره په سفر ولاړی، څلور کاله تير سوه خو تقريبا اوه مياشتي مخکي دا سړی په لکهنو کي ديوه معتبر سړي سره يوځای سو هغه دښځي په باره کي پوښتنه ورڅخه وکړه؟ نو ده جواب ورکی چي ما هغې ته په هغه ورځ طلاق ورکړی ؤ چي کله ما وطن پرېښووی ددي څخه معلومه سوه چي ده په سفر باندي دتللو په وخت کي دهغو پنځوسو روپو جرماني دويري ښکاره طلاق نه وو ورکړی، نو ذکر سوي ښځي ته عقد کول جائز دي اوکه نه؟

جواب: که مېړه دطلاق څخه انکار وکړي نو صرف ديوه شخص په شاهدي سره طلاق نه ثابتيږي (٣) خوکه مېړه پردي فقره چي ده، دا خبره ددې معتبر سړي دقول مطابق ويلي ده اقرار کوي نو طلاق به دهغه وخت څخه ثابت وي چي کله ده دا لفظ ويلی وو چي ما خو هغي ته طلاق هم په هغه ورځ ورکړی وو دهمدي وخت څخه به عدت شمارل کيږي (٤) او دعدت څخه وروسته ذکر سوي ښځي ته دوهم عقد کول جائز دي.

دعدت څخه وروسته يې په نکاح کړه اودمرګ څخه دوې درې ورځې مخکې يې طلاق ورکی

---

(١) وګورئ: ردالمحتار باب المتفرقات ج۴ ص۳۱۲ - ۳۱۷. ط. س. ج۵ ص۲۴۷. ظفير

(٢) ردالمحتار باب التعليق ج۲ ص۶۷۹. ط. س. ج۳ ص۳۴۳. ظفير

(٣) وما سوى ذلك من الحقوق يقبل فيها شهادة رجلين او رجل وامراتين سواء كان الحق مالا او غير مال مثل النكاح والطلاق (هدايه كتاب الشهادة ج۳ ص۱۵۴). ظفير

(٤) ويلزم المرأة عند زوال النكاح (الدرالمختار على هامش ردالمحتار باب العدة ج۲ ص۸۲۴. ط. س. ج۳ ص۵۰۳) فالعدة من وقت الطلاق لا من وقت القضاء (ج۲ ص۸۳۹. ط. س. ج۳ ص۵۲۰). ظفير

نوځه حکم دی؟ سوال: (۲۲۴) زید دهندي مطلقي سره وروسته دعدت څخه نکاح وکړه اوپه لسو پنځلسو ورځو کي دننه ناروغ سو هنده چي دکور په ساتلو کي بي پروا وه اوکردار يي صحيح نه وو نو زيد ددي بيرى څخه چي څه هلاکوونکى شى راباندى ونه خوري داحتياط لپاره يي خپلو خپلوانو ته وويل چي زه ناروغ يم او دا زما څخه بيله کړى په دى دوران کي هغه حامله سوه زيد انکار وکى چي داحمل زما څخه نه دى او هندي ويل چي دده څخه دى ددې څخه وروسته زيد هغي ته طلاق ورکى په دريمه ورځ زيد مړسو نو په دي صورت کي دزيد نکاح صحيح سوه اوکه نه؟ او داطلاق معتبر دى اوکه نه؟ او هندي ته به ميراث رسيږي اوکه يوائي دمهر مستحقه ده؟

جواب: دزيد نکاح صحيح سوه اوطلاق هم واقع سو خو چي زيد په خپل مرض الموت کي هندي ته طلاق ورکړى دى نو ددي وجهي هنده دزيد په ترکه کي وارثه ده او مهر به هم پوره ورکول کيږي (۱).

دطلاق لفظ يي پنځه واري وواية نو څه حکم دى؟ سوال: (۲۲۵) زيد دغصي په حالت کي خپلي ښځي ته پنځه ځله طلاق طلاق طلاق طلاق طلاق وويلى نو په دي صورت کي دزيد ښځه طلاقه سوه او که نه؟

جواب: په دي صورت کي دزيد پر ښځى درى طلاقه واقع سوه اودا مطلقه ثلاثه سوه لکه څنګه چي په شامي کي تصريح ده: وطلاق الغضبان واقع الخ (۲) بلکه ډير ځلى دطلاق باعث هم داغصه وي اوپه ځينو کناياتو کي فقهاوو غصه قرينه دوقوع دطلاق ګرځولي ده اګر که دطلاق نيت يي هم نه وي: وهذا اوضح دليل على ان الغضب لا ينافى وقوع الطلاق.

صرف دخسر په دي وينا چي ما اوريدلى دى چي طلاق يي ورکړى دى طلاق نسته: سوال: (۲۲٦) دپوښتني خلاصه داده چي زيد وايي چي ماخپلي ښځي ته طلاق نه دى ورکړى اودزيد خسر وايي چي ما دخلګو څخه اوريدلي دي چي زيد خپلي ښځي ته طلاق ورکړى دى او خلګ دابيان کوي چي زيد زموږ په مينځ کي خپلي ښځي ته فارغ خطي نه ده ورکړي نو په دي صورت کي ايا طلاق واقع دى؟

جواب: په دي صورت کي فارغ خطي په شرعي طريقي سره ثابته نه ده نو ددي وجهي دغه ذکر سوي ښځه دزيد په نکاح کي ده او ده ته به تسليميږي.

---

(۱) من غالب حاله الهلاك بمرض الخ فلو ابانها وهى من اهل الميراث طائعا بلا رضاها وهو كذلك ومات ورثت هى منه (الدرالمختار على هامش ردالمحتار باب طلاق المريض ج۲ ص۷۱۵، ط. س. ج۳ ص۳۸۴ – ۳۸۲). ظ

(۲) ويقع طلاق من غضب خلافا لابن القيم (ردالمحتار كتاب الطلاق ج۱ ص ۵۸۷. ط. س. ج۳ ص ۴۴). ظفير

چي ترڅو زما روپۍ ادا نه کړي پرتا طلاق بيايي وويل: طلاق مي درکړی دی په دي صورت کی څه حکم دی؟ **سوال:** (۲۲۷) ميړه خپلي روپۍ وشميرلي او ويي ويل چي زما روپۍ تا وړي دي زما روپۍ راکړه ښځي وويل چي زما سره نه دي ميړه وويل چي ترڅو پوري زما روپۍ رانه کړي نو پرتا طلاق ددي څخه وروسته ددي سړي څخه چا پوښتنه وکړه چي آيا تاخپلي ښځي ته طلاق ورکړی دی نوده وويل ما طلاق ورکړی دی او څو نورو کسانو ته يي هم وويل چي ما طلاق ورکړی دی نو په دي صورت کي طلاق واقع سو اوکه نه؟ او دی دوباره نکاح کولای سي اوکه نه؟

جواب: ميړه چي دخلګو په بيا بيا پوښتلو باندي وويل چي: ما طلاق ورکړی دی که ددي څخه دده دپخوانيو طلاقو خبر ورکول مراد وو نو دده پرښځی يوطلاق چي ده اول ورکړی وو واقع سو (۱) اوس دښځي سره نوي نکاح کولای سي.

که يې فلانی کار وکی نوزه به طلاق ورکړم بيايي وويل چي ښځي ته مي شرطيه طلاق ورکړی دی په دي صورت کی څه حکم دی؟ **سوال:** (۲۲۸) زيد په غصه کي خپلي ښځي ته وويل چي که دي فلانی کار وکی نوتاته به طلاق درکړم ددي څخه وروسته زيد خپلي مورته دا وويل چي واخله ما ستا پرسر خپلي ښځي ته شرطيه طلاق ورکړی نو په دي صورت کي طلاق واقع سو اوکه نه؟

جواب: په دي صورت کي چي زيد دانجلي مورته وويل چي ما شرطيه طلاق ورکی او ددي څخه دده مراد هغه شرطيه طلاق دی چي ده خپلي ښځي ته ويلی وو چي که تا فلانی کار وکی نوتاته به طلاق درکړم نو دا وعده ده په دي کي که شرط موجود هم سي نو بيا هم طلاق نه واقع کيږي بلکه ددي حاصل دادی چي که زيد طلاق ورکړی نو طلاق به واقع سي کني نو ددي وجهي څخه پرزيد څه کفاره نسته په ذکرسوو الفاظو سره دزيد دطلاق ورکولو څخه پورته طلاق نه واقع کيږي اګر که په دغه کارونو کي دده ښځه يوکار هم وکړي: کما فی الهدايه (۲) وغيره من ان الطلاق بلفظ الاستقبال وعد. فقط

که يې نکاح کړي وي نوطلاق يې ګڼو په دي ويلوسره طلاق واقع سو اوکه نه؟ **سوال:** (۲۲۹)

(۱) لو قال لها انت طالق طالق او انت طالق انت طالق او قال قد طلقتك قد طلقتك او قال انت طالق وقد طلقتك قد طلقتك او قال انت طالق وقد طلقتك تقع ثنتان اذا كانت المراة مدخولا او لو قال عنيت بالثانی الاخبار عن الاول لم يصدق فی القضاء ويصدق فيما بينه وبين الله (عالمګيري مصري باب ثانی ايقاع الطلاق ج۱ ص ۳۷۹. ط. ماجديه ج۱ ص ۳۵۵۰). ظفير

(۲) او انا اطلق نفسي لم يقع لانه وعد (درمختار) وعبارة الجوهرة وان قال طلقی نفسك فقالت انا اطلق لم يقع قياسا واستحسانا آه (ردالمحتار باب تفويض الطلاق ج۲ ص ۷۵۸. ط. س. ج ۳ ص ۳۱۹) ظفير

زید میږه خپلي ښځي عابدي ته په حالت دجنګ کي وويل چي نکاح وکړه که نه وې نو همدا طلاق وګڼه نو په دي صورت کي طلاق وسو اوکه نه؟

جواب: که په واقع کي زيد نکاح کړي وي نو دده په دي ويلو سره (که مي کړيده نوطلاق وګڼه) پرعابده طلاق واقع سو (۱) دعدی څخه وروسته دا دبل سړي سره نکاح کولی سي.

(۲۷۰) سوال: ددوه سړيو په مخکي يي وويل چي ما طلاق ورکړی دی نو څه حکم دی؟

دنابالغه هندي نکاح ددي انا دزيد سره وکړه او زيد دشپږو اوو کلو راهيسي بهر يوځای اوسيږي او دهندي سره هيڅ قسم تعلق نه ساتي تر دي چي ددومره مودي راهيسي يي نان او نفقه هم نه ده ورکړي خو ددوو سړيو په مينځ کي يي داويلي دي چي ما خو هندي ته طلاق ورکړی دی نو په دي صورت کي هنده دبل چاسره نکاح کولای سي اوکه نه؟

جواب: چي کله پرطلاق شرعي شهادت سته نو پرهندی طلاق واقع سو هغي ته دعدی څخه وروسته ددوهمي نکاح اختيار دی: کما فی الهداية وغيره وماسوی ذلك من الحقوق يقبل فيها شهادة رجلين او رجل وامراتين سواء كان الحق مالا او غير مال مثل النكاح و الطلاق الخ (۲) فقط، والله تعالٰی اعلم.

(۲۷۱) سوال: میږه دیوه طلاق ورکولو بیان کوي او شاهد داوو (۷) نو څو به ورکول سي؟

یوه سړي دخپلي ښځي سره جنګ او فساد وکی او هغه يي دکور څخه وايستله په ښار کي مشهوره سوه چي فلاني سړي ښځي ته طلاق ورکړی دی ځينی خلګ وايي چي ده ښځي ته اوه طلاقه ورکړي دي قاضي دده څخه پوښتنه وکړه نو ده داوو طلاقو څخه انکار وکی او ديوه طلاق اقرار يي وکی قاضی بيا ددوی په مينځ کي نکاح وکړه اوس دوه سړيان وايي چي ده زموږ په مخکي داوو طلاقو اقرار کړی دی چي ماخپلي ښځي ته اوه طلاقه ورکړي دي نو په دي صورت کي به شرعا څه حکم وي؟

جواب: دغه دوه سړيان چي وايي چي ده زموږ په مخکي داوو طلاقو اقرار کړی دی که عادلان وي نو دده پرښځی دری طلاقه واقع سوه ځکه چي ترديو طلاقو زيات په شريعت کي لغوه دي اوپه دری طلاقه سره ښځه په مغلظ ډول حراميږي اوبی له حلالي داول میږه سره دوهمه نکاح نسي کولای ددي وجه قاضي چي کمه نکاح بي له حلالي وکړه هغه صحيح نه ده او دذکر سوي میږه اقرار کول معتبر نه دي خوکه دغه دوه شاهدان داقرار عادل او معتبر نه وي او میږه داوو طلاقو څخه منکر وي نو بيا په موجب

---

(۱) ويقع طلاق كل عاقل بالغ الخ (الدرالمختار على هامش ردالمحتار كتاب الطلاق ج۲ ص ۵۷۹. ط. س. ج ۳ ص ۳۱۵). ظفير

(۲) هدايه كتاب الشهادة ج۳ ص ۱۵۴ – ۱۵۵. ظفير

ددغه اقرار چي ده دقاضي په مخکي کړی دی یو طلاق دده پرښځی واقع سو او دوهمه نکاح صحيح سوه قال الله تعالى: الطلاق مرتان فامساك بمعروف او تسريح باحسان (الى قوله تعالى) فان طلقها فلا تحل له من بعد حتّٰى تنكح زوجا غيره، الايه. ([1])

میړه اول دطلاق اقرار کوی او اوس انکار کوی نو څه حکم دی؟ سوال: (۲۷۲) زید خپلي ښځي ته طلاق ورکی او دخلګو دپوښتني په جواب کي وویل: چي ما خپلی ښځي ته طلاق ورکړی دی اوځو واره مي ورکړی دی اوس زید د طلاقو څخه انکار کوي نو دا انکار معتبر دی او که نه؟

جواب: که دوه عادل شاهدان یعني لمونځ کوونکي پرهیزګار دطلاق وي یعني چي ددوی په مخکي زید ویلي وي چي ما څوځله طلاق ورکړی دی په هغوی کي که دوه شاهدان هم عادل او ثقه وي نو په دي صورت کي طلاق ثابت سو او دزید انکار معتبر نه دی ([2]).

په لاندیني صورت کي پردواړو ښځو طلاق واقع سو که پریوی اوڅومره واقع سو؟ سوال: (۲۷۳) دیوه سړي دوی ښځي دي ددواړو ښځو دکور په کارونو کي جنګ راغی میړه وویل: تاسو ته مي یو طلاق درکی چا ورته وویل دا دي څه ډول طلاق ورکی طلاق نه واقع کیږي نو ده وویل تاسو ته مي یو طلاق دوه طلاقه دری طلاقه درکړه نو په دي صورت کي دواړی ښځي په دریو طلاقو طلاقي سوي اوکه څنګه؟

جواب: په دي صورت کي پردواړو ښځو باندي دری طلاقه واقع سول: قال في الدرالمختار قال لنسائه الاربع بينكن تطليقة طلقت كل واحدة تطليقة وكذا لو قال بينكن تطليقتان او ثلاث او اربع الا ان ينوى قسمة كل واحدة بينهن فتطلق كل واحدة ثلاثا الخ درمختار قوله فتطلق كل واحدة ثلاثا اى الا فى التطليقتين فيقع على كل واحدة منهن طلقتان كذا فى الحاكم الشهيد ومثله فى الفتح والبحر شامي جلد۲ ص۴۵۹. ([3])

تاته طلاق دي ولاړه سه، په دي ویلو سره کم طلاق واقع کیږي؟ سوال: (۲۷۴) رمضاني خپلي ښځي ته دیو قصور په وجه وویل چي ته طلاقه یي څه ولاړه سه نو په دي صورت کي څه حکم دی؟

جواب: په دی صورت کي درمضاني پرښځی بائن طلاق واقع سو ([4]).

([1]) سورة البقرة ۲۹. ظفير

([2]) وما سوى ذلك من الحقوق يقبل فيها شهادة رجلين اورجل وامراتين (هدايه ج۲ ص ۱۵۴). ظفير

([3]) رد المحتار باب طلاق غير المدخول بها ج۲ ص ۷۳۱ – ۷۳۲ . ظفير

([4]) ويقع طلاق كل عاقل بالغ الخ (الدرالمختار على هامش ردالمحتار كتاب الطلاق ج۲ ص ۵۷۹. ط. س. =

ښځې ته يې وويل زما ستا سره څه تعلق نسته طلاق يې ورکی بيايې دهغه په ذريعه نيکه ته خبر ورکی نوڅه حکم دی؟ **سوال**: (۲۷۵) محمود خپلي ښځې ته وويل چې زما ستا سره هيڅ تعلق نسته او ما تاته طلاق درکړی دی ددي څخه وروسته يې پريوه پرچه خپل نيکه ته وليکل چې ما خپلي ښځې ته طلاق ورکړی نو په دې صورت کې بائن طلاق واقع سو او که مغلظ؟

جواب: په دې صورت کې دمحمود پرښځې بائن طلاق واقع سو (۱) په دې شرط چې دا کمه پرچه نيکه ته دطلاق په باره کې ليږلې ده دهغې څخه مراد دده دزباني طلاق خبر ورکول وي نوپه دې صورت کې به دری طلاقه نه وي واقع سوي اوبې له حلالې محمود ددې مطلقې سره دوهمه نکاح کولای سي خو بې له نکاح څخه يې رجوع صحيح نه ده، درمختار وغيره.

په طلاق اوقسم سره درښتيا ويلو ورته وويل سوه خو بيايې هم دروغ وويل نوڅه حکم دی؟

سوال: (۲۷۶) يوه سړي ته دطلاق او دقسم په نسبت وويل سوه چې فلاني خبره رښتيا وکړه هغه قسم وکی او دروغ يې وويل دطلاق په هکله يې داسې وويل چې اوس زه بوډا يم ښځه پرما طلاقه ده نو په دې صورت کې طلاق واقع سو او که نه؟

جواب: په شامي جلد ثاني ص۴۲۹ باب الصريح کې دي فقال انی حلفت بالطلاق انی لا اشرب وکان کذبًا فيه ثم شرب طلقت الخ (۲) نو ددې عبارت څخه ښکاره سوه چې په پوښتل سوي صورت کې که ده په دروغو قسم وخوړی نو دده ښځه طلاقيږي.

دطلاق څخه وروسته ميړه ته ورتلای سي اوکه نه؟ **سوال**: (۲۷۷) دشپږوکلو راهيسې يوې ښځې ته ميړه دعدالت په مخ کې طلاق ورکی ددې ښځې يوهلك اويوه انجلۍ ده اوس داوايي چې زه ميړه ته ورځم او ميړه هم داخوښوي چې دابښځه ورسي نو چې څنګه دشريعت حکم وي دهغه مطابق به نکاح وسي؟

جواب: که دې ميړه دری طلاقه نه وي ورکړي نو بې له حلالې څخه دابښځه داول ميړه سره نکاح کولای سي. (۳)

= ج۳ ص۲۳۵) الصريح يلحق الصريح ويلحق البائن بشرط العدة (درمختار) واذ لحق الصريح البائن کان بائنا (رد المحتار باب الکنايات ج۲ ص۷۴۵. ط. س. ج۳ ص۳۰۴). ظفير

(۱) اذا لحق الصريح البائن کان بائنا لان البينونة السابقة عليه تمنع الرجعة (ايضا. ط. س. ج ۳ ص ۳۰۲). ظفير

(۲) ردالمحتار باب الصريح ج۲ ص۵۹۰. ط. س. ج ۳ ص ۲۴۸. ظفير

(۳) وينکح مبانته بما دون الثلاث فی العدة وبعدها بالاجماع ومنع غيره منها لاشتباه النسب (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب الرجعة ج ۲ ص ۷۳۸. ط. س. ج ۳ ص۴۰۹). ظفير

بائن طلاق یی ورکی اودری ځله یی وویل خو دتاکید په نیت سره: سوال: (۲۷۸) یوه سړي خپلي ښځي ته دښځي په غیبوبت کي دیوه سړي په مخ کي طلاق ورکی اوطلاق ورکوونکی وایي چي مابائن طلاق بائن طلاق بائن طلاق ویلی دي زما نیت ددي تکرار څخه ددریو طلاقو نه وو صرف دطلاق بائن دتاکید اراده مي وه دابیان په قسم سره کوي او دزید څخه پورته نور شاهدان هم نسته نو څه حکم دی؟

جواب: دمیړه دبیان موافق په دي صورت کي قضاءاً هم دری بائن طلاقونه (مغلظ) واقع سوي دي کما فی رد المحتار فی قوله وان نوی التاکید دینا الخ ای وقع الکل قضاءً ([1]) وفی باب الکنایات الصریح یلحق الصریح ویلحق البائن بشرط العدة الخ ([2]) نو په صریحو الفاظو سره چي کم بائن طلاق ورکول سوی دی دهغه سره دوهم اودریم طلاق پیوست کیدای سي لهذا په دي صورت کي به قاضي ددي خبري تصدیق نه کوي چي دمیړه اراده دطلاق بائن تاکید وو نو په دي حالت کي دشاهد ضرورت نسته او قضاء ددریو طلاقو حکم کیږي او بل داچي فقهاء تصریح کوي: المراة کالقاضی کذا فی الشامي ([3]) نو په همدي بناء کله چي ښځي ته ددي الفاظو خبر ورسیږي نو هغه دي دا مغلظ طلاق وګڼي: وفي الفتح والتاکید خلاف الظاهر وعلمت أن المرأة کالقاضي لا یحل لها أن تمکنه إذا علمت منه ما ظاهره خلاف مدعاه آه شامي. ([4]) فقط

طلاق یی ورکړی دی په لاندی لیکل سوی شهادت باندی طلاق ثابتیږي اوکه نه؟ سوال: (۲۷۹) زید چي کله ناراضه سو نو خپلي ښځي ته یي په عامه مجمع کي طلاق ورکی او یو په بل پسي یي دری ځله دطلاق الفاظ وویل چي ته ما پرېښبي یي او طلاق مي درکی ستاسره زما هیڅ تعلق نسته چي ددي په ثبوت کي دشاهدانو بیان درلیږل سوی دی په دي سره طلاق ثابتیږي اوکه نه؟

جواب: که میړه دطلاق څخه منکر وي نو ددوو عادلو شاهدانو په شهادت سره طلاق ثابتیږي او په پوښتل سوي صورت کي له دي امله چي شهادت دقریبانو دی ځکه نو شرعي شهادت پوره نه سو او دشرعي شهادته پرته طلاق نه ثابتیږي. ([5]) فقط

([1]) ردالمحتار باب طلاق غیر المدخول بها ج۲ ص ۷۳۲. ط. س. ج ۳ ص۲۹۳. ظفیر

([2]) ردالمحتار باب الصریح ج۲ ص۵۹۴. ط. س. ج۳ ص۲۵۱، ددی څخه وروسته داهم دی اذا سمعته او اخبرها عدل لایحل تمکینه (ایضا). ظفیر

([3]) ط. س. ج۳ ص۲۵۱. ظفیر

([4]) وما سوٰی ذالك من الحقوق یقبل فیها شهادة رجلین اورجل وامراتین سواء کان الحق مالا اوغیر مال، مثل النکاح والطلاق (هدایه کتاب الشهادة ج۳ ص۱۵۴). ظفیر

([5]) الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب الصریح ج۲ ص۲۵۱ ط. س. ج۳ ص ۲۷۴. ظفیر

دری طلاقه یي واچول په دریم یي وویل طلاق دی بیا یي وویل پرما باندي زما ښځه حرامه حرامه حرامه څو طلاقونه واقع کیږی؟ **سوال:** (۲۸۰) احمد دخپل پلار لاس ونیوی او دری کاڼي یي وویشتل او ددریم کاڼي سره یي متصل وویل چي طلاق دی ددي سره یي متصل پسي وویل پرما باندي زما ښځه حرامه ده حرامه ده حرامه ده په دي صورت کي څو طلاقونه واقع کیږي؟

جواب: په درمختار کي دي: أنت طالق هكذا مشيرا بالأصابع المنشورة وقع بعدده بخلاف مثل هذا فانه إن نوى ثلاثا وقعن وإلا فواحدة الخ (۱) ددي څخه معلومیږي چي په پوښتل سوي صورت کي هم که دمیږه نیت ددریو طلاقونو وي نو دری طلاقه واقع کیږي اوکه داسي نه وي نو په صریح لفظ یوطلاق واقع کیږي او دوهم طلاق دحرام په لفظ سره واقع کیږي ښځه بائنه مطلقه ګرځي او نور دوه ځله دحرام لفظ ویل لغوه دی په درمختارکي دي: والصريح يلحق الصريح والبائن، والبائن يلحق الصريح لا البائن. الخ (۲) فقط

دطلاق څخه یی انکار وکی بیایی وویل که می طلاق نه دی ورکړی نو بیا می هم ورکړی دی په دی صورت کی څه حکم دی؟ **سوال:** (۲۸۱) دهندي بیان دی چي زما میړه زید ماته طلاق راکی کله چي زید وپوښتل سو نو اول یي انکار وکی اوبیایي دا ډول وویل: (خوکه مي طلاق نه دی ورکړی هم ورکړی مي دی) او داخبره یي یو ځل وکړه په دي صورت کي څه حکم دی؟

جواب: دزید په دي خبره چي که مي طلاق نه دی ورکړی بیا هم ورکړی مي دی یو طلاق دده پرښځی واقع سو په دي کي حکم دادی چي په عده کي دننه بغیر دنکاح څخه رجوع کولای سي کذا فی کتب الفقه (۳).

بل ته یی وویل چی دیته می طلاق ورکړی دی نو په دی سره طلاق واقع سو اوکه نه؟ **سوال:** (۲۸۲) یوه سړي په حالت دغصي کي خپلي ښځي ته طلاق ورکی په داسي ډول چي

---

(۱) الدرالمختار على هامش ردالمحتار باب الصريح ج۲ ص۲۵۱ ط. س. ج۳ ص ۲۷۴. ظفير

(۲) الدرالمختار على هامش ردالمحتار باب الكنايات ج ۲ ص ۲۴۵. ط. س. ج۳ ص۳۰۷. ظفير

(۳) الرجعة هى استدامة الملك القائم فى العدة بنحو راجعتك وردتك ومسكتك بلانية لانه صريح بكل ما يوجب حرمة المصاهرة بتزوجها فى العدة ان لم يطلق بائنا فان ابانها فلا وان ابت (درمختار) قوله ان لم يطلق بائنا هذا بيان لشرط الرجعة ولها شروط خمس قلت وهى ان لايكون الطلاق ثلاثا الخ ولا واحدة مقترنة بعوض مالى ولابصفة تنبئ عن البينونة الخ ولا مشبهة كطلقة مثل الجبل ولاكناية يقع بائنا (ردالمحتار باب الرجعة ج۲ ص۷۲۷ – ۷۳۷. ط. س. ج۳ ص ۳۹۷) وينكح مبانة بما دون الثلاث فى العدة وبعدها بالاجماع (ايضا ج۲ ص۷۳۸. ط. س. ج۲ ص۴۰۹). ظفير

دانجلي مورته يي وويل چي ديته مې طلاق ورکې شرعا طلاق واقع سو او که نه ځکه چي ښځي ته يي په خطاب کي طلاق نه دی ورکړی نو په دي صورت کي ميړه بيا ښځه ساتلای سي او که نه؟

جواب: په دي صورت کي شرعا دده پرښځې طلاق واقع سو خوکه صرف يو طلاق يي دغصي په حالت کي ورکړی وي نوپه عده کي دننه دابنځه خپله کولای سي او دعدی څخه وروسته نوي نکاح بي له حلالي کولای سي.

ښځي وويل ميړه طلاق راکړی دی او دډيري مودي راهسي يی زه بيله کړی يمه همدا وو چي هغې دوهمه نکاح وکړه اوس ميړه انکار کوي نو څه حکم دی؟ **سوال**: (۲۸۳) ديوي ښځي بيان دی چي زما ميړه ماته طلاق راکړی دی او دډيري مودي راهيسي دی زما کفيل نه دی دا بيان يي وکی او ديوه سړی سره يي نکاح وکړه نو چي کله ددي دنکاح خبر مخکني ميړه ته ورسيدی هغه وويل چي ما دي ته طلاق نه دی ورکړی نو په دي صورت کي نکاح وسوه او که نه؟

جواب: که دښځي پردعوه دوه شرعي شاهدان نه وي او ميړه دطلاق څخه منکروي نو طلاق ثابت نه دی او ددي ښځي دوهمه نکاح صحيح نه ده اوس دی اول ميړه ته ووايي چي يا دي طلاق ورکړي اويا دهغي دډوډی او نفقي بندوبست وکړي.

چي دچا په مخکې يی دطلاق اقرار کړی دی دهغه په شاهدی سره طلاق ثابتيږی او که نه؟

سوال: (۲۸۴) يوه سړی خپلي ښځي ته طلاق ورکې دری څلور سړي موجود وه بيا دذکر سوي سړي څخه نورو خلګو پوښتنه وکړه نو ده اقرار وکی چي ما طلاق ورکړی دی ددي ټولو څخه وروسته اوس ميړه دطلاق څخه انکار کوي دکمو خلګو په مخ کي چي يي طلاق ورکړی وو هغه نسته خو چي دچا په مخکي دطلاق اقرار کړی دی هغه سته او وايي چي زموږ په مخکي دي سړي دطلاق اقرار کړی وو نو په دي صورت کي ددي سړي پرښځی طلاق واقع کيږي او که نه؟

جواب: که په دي خلګو کي چي ده دهغو په مخکي دطلاق اقرار کړی وو دوه سړي هم عادل اولمونځ ګذاره وي نوطلاق ثابت سو او دده انکار داعتبار له درجي ساقط دی کذا فی کتب الفقه (۱).

ددوو بائنو طلاقو څخه وروسته يی تجديد دنکاح وکی بيايي څو مياشتي وروسته دوه طلاقه ورکړه نو اوس څه حکم دی؟ **سوال**: (۲۸۵) زيد هندي ته دوه بائن طلاقونه ورکړه بيايپه

(۱) وما سوی ذلك من الحقوق يقبل فيها شهادة رجلين اورجل وامراتين سواء كان الحق مالا او غير مال مثلا النكاح والطلاق (هدايه کتاب الشهادة ج ۳ ص ۱۵۴). ظفير

خپل مینځ کي راضي سوه اونکاح یي وکړه او بیایي څلور میاشتي وروسته بیا دوه بائن طلاقونه ورکړل نوپه دي صورت کي دحنفي مذهب مطابق دری طلاقه واقع سوه اوکه نه؟
جواب: په لومړي صورت کي بي له حلالي داول میړه سره نکاح صحیح ده ځکه چي دبائن طلاق څخه وروسته طلاق بائن جدیده نه واقع کیږي او همدارنګه دعدی څخه وروسته ورکول سوی طلاق دمخکنیو طلاقو سره نه جمع کیږي. (۱)

ددوو بائنو طلاقو څخه وروسته یی نکاح تازه کړه بیا څو ورځی وروسته یی دوه طلاقه ورکړل اوس څه حکم دی؟ **سوال**: (۲۸٦) زید خپلي ښځي هندي ته دوه بائن طلاقونه ورکړه او بیایي نکاح ورسره وکړه او بیایي څو ورځي وروسته دوه طلاقه نور ورکړل نو اوس پرهندی څو طلاقه واقع سوه؟
جواب: که پرمخکنیو طلاقو عده تیره سوی وي نو بیا دورستنیو دوو طلاقو سره دری طلاقه نه کیږي اوکه یي په عده کي ددوو طلاقو څخه وروسته بیا دوه طلاقه ورکړی وي نو دری طلاقه واقع سوه. (۲)

چی ښځی ته تلاک یا تیلاک یا انت مطلقه ووایي نوڅه حکم دی؟ **سوال**: (۲۸۷) لفظ دطلاق طلاع طلاخ تلاك تلاق فقهاوو په صریح طلاقو کي داخل کړي دی که تلاك یا تیلاك یا انت مطلقه په سکون دطاء سره ووایي نو حکم دصریح طلاق لري اوکه کنایي؟
جواب: تلاك او تیلاك په حکم دصریح کي دی اوپه دي الفاظو سره بي له نیته طلاق واقع کیږي اوانت مطلقه بالتخفیف دا دکنایاتو څخه دی که دطلاق نیت ورسره وي نویو رجعي طلاق ورباندي واقع کیږي، کذا فی الشامي اوپه درمختارکي دي: وانت طالق ومطلقة بالتشديد الخ، اوپه شامي کي دي: قوله بالتشديد ای تشديد اللام فی مطلقة اما بالتخفيف فيلحق بالكناية (۳) بحر وفي الدرالمختار ايضا ويدخل نحو طلاغ وتلاغ وطلاك وتلاك الخ. (۴)

یوه ښځه دشهادت په توګه دری‌طلاقه وایي او نوري یو یو نوبایدڅه وکړل سي؟ **سوال**: (۲۸۸)

---

(۱) وينكح مبانئة بما دون الثلاث فی العدة وبعدها بالاجماع (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب الرجعة ج۲ ص۷۳۸. ط. س. ج۳ ص۵۹۰) لايلحق البائن البائن (ايضا باب الكنايات ج۲ ص ۲۴۲. ط. س. ج۳ ص ۳۵۸). ظفير

(۲) الصريح يلحق الصريح ويلحق البائن بشرط العدة والبائن يلحق الصريح (درمختار) قوله بشرط العدة هذا الشرط لابد منه فی جميع صور الالحاق فالاولی تاخيره عنها (ردالمحتار باب الكنايات ج۲ ص ۷۴۵. ط. س. ج۳ ص ۳۵۲). ظفير

(۳) ردالمحتار باب الصريح ج۲ ص۵۹۵. ط. س. ج ۳ ص ۲۴۸. ظفير

(۴) الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب الصريح ج۲ ص۵۹۱. ط. س. ج۳ ص۲۴۹. ظفير

يوه سړي خپلي ښځي ته ديوځو ښځو او ديوه سړي په مخکي طلاق ورکی اوس داسړی او طلاق ورکوونکی او دده ښځه او دوې ښځي نوري دا وايي چي يو طلاق يي ورکړی دی خويوه ښځه وايي چي دری طلاقه يي ورکړي دي نو په دي صورت کي دچا خبره معتبره ده؟

جواب: په دي صورت کي به ديوه طلاق حکم وي او ددريو طلاقو حکم به نه وي. (١)

ښځه او ميړه يو طلاق ورکول وايي او دوه شاهدان دری طلاقه نو بايد څه وکړل سی؟ سوال:

(۲۸۹) حکمت الله خپلي ښځي فاطمي ته يو ځل طلاق ورکی ددواړو هم دا بيان دی خو دوه نور سړي بيان کوي چي موږ واوريدل چي حکمت الله دری ځله طلاق ورکی خو چي کم ځای ميړه طلاق ورکړی وو داسړيان هلته موجود نه وه په مينځ کي ديوال وو نو په دي صورت کي څه حکم دی؟ ميړه وايي چي مايو ځل طلاق ورکړی دی اوښځه هم همدا بيان کوي خو سماعي شاهد ددريو طلاقو شاهدي ورکوي او بل دا چي حکمت الله په عدت کي ښځي ته رجوع وکړه؟

جواب: په دي صورت کي دميړه قول معتبر دی او دری طلاقه ثابت نه دي ځکه چي شاهد دطلاق په خپله وايي او مقر دی چي موږ په هغه ځای کي موجود نه وو اوپه مينځ کي ديوال حائل وو او زموږ شهادت سماعي دی نو ددي وجهي داشهادت شرعًا معتبر نه دی (٢) ځکه نو دحکمت الله رجوع کول په عدت کي په ذکر سوي حالت کي خپلي ښځي ته صحيح ده او دواړه سره ښځه او ميړه دي او نکاح يي قائمه ده. (٣)

څو طلاقه يي ورکړي خو په ياد يي نه دي او انکار کوي يو سړی شاهد دی نو طلاق واقع سو اوکه نه؟ سوال: (۲۹۰) يو سړی دناروغي په حالت کي خفه سو او بلي خواته ولاړی دده مشر ورور په ده پسي ورغی او ورته وي ويل چي خپله ښځه دي هم دځان سره وساته او نوري څه خبري هم دخفګان ددواړو ورونو تر مينځ وسوي نو دمرض په دا ډول حالت کي ده څو ځله دطلاق لفظ وويل دهمدغه وخت څخه دده ښځه دخپل مور او پلار په کور کي ده تر روغيدو وروسته هغه سړی خپل کور ته راغی اومشر ورور ته يي وويل چي زه

(١) وما سوى ذلك من الحقوق تقبل فيه شهادة رجلين او رجل وامرأتين سواء كان الحق مالا او غير مال مثل النكاح والطلاق (هدايه كتاب الشهادة ج۳ ص۱٥٤). ظفير

(٢) ولا يشهد على محجب سماعه منه الا اذا تبين القائل بان لم يكن فى البيت غيره لكن لو كان تقبل (الدرالمختار على هامش ردالمحتار كتاب الشهادة ج۴ ص٥١٨) ولا يشهد احد بما لم يعائنه بالاجماع (ايضا ج۴ ص٥۲. ط. س. ج٥ ص۴۲۸). ظفير

(٣) اذا طلق الرجل امرأته تطليقة رجعية او تطليقتين فله ان يراجعها فى عدتها رضيت بذلك اولم ترض (هدايه باب الرجعة ج۲ ص۳۷۴). ظفير

خپله ښځه راولم، مشر ورور جواب ورکي چي تا طلاق ورکړی دی ده وویل ماهیڅ کله طلاق نه دی ورکړی اونه ماته څه معلومات سته او دی قسم خوري چي ماته هیڅ معلومات هم نسته ډاکتر صاحب دا وایي او لیکي چي دا یوه داسي ناروغي وه چي عقل او حواس صحیح نه پکي پاته کیږي، په همدي بناء یوه مولوي فتوی ورکړه چي طلاق نه دی واقع سوی نوآیا په دي صورت کي شرعًا څه حکم دی؟

جواب: په داسي حالت کي دمیړه قول معتبر دی او طلاق واقع نه سو ځکه چي نه دوه شاهدان دطلاق سته اونه میړه دطلاق اقرار کوي اوده ته هیڅ یاد نه دي نو ددي وجهي حکم دطلاق په دي صورت کي نه کیږي. (۱)

ما پرون طلاق ورکړی دی، ددي ښځه وروسته يي دری ځله داسي وويل ستا صفايي مي وکړه نوڅه حکم دی؟ **سوال**: (۲۹۱) زید دخپلي ښځي سره جنګ وکی وروسته زید ته ښځي وویل خوراك وکړه زید انکار وکی نو بیا ښځي وویل چي خوراك نه کوي نو طلاق راکړه زید وویل چي طلاق خوما پرون درکړی دی او په دوو شاهدانو ثابته سوه چي زید یو طلاق خپلي ښځي ته ورکی وروسته دری ځله زید وویل چي ستا صفایي مي وکړه نو کم طلاق واقع سو؟

جواب: په دي صورت کي یو صریح طلاق اول ثابت سو او لفظ د (صفایي مي وکړه) کنایي دی په وجه ددلالة الحال سره پرهغه باندي هم یو بائن طلاق واقع سو اوپه تکرار دلفظ دکنایي سره یو طلاق واقع کیږي نو ددي وجهي دزید پرښځه دوه بائن طلاقونه واقع سوه په درمختار کي دي: وفي مذاکرة الطلاق یتوقف الاول (۲) وفیه والبائن یلحق الصریح الخ ولا یلحق البائن البائن الخ. (۳)

دری ځله مي جواب درکی، په دې ویلوسره کم طلاق واقع کیږي: **سوال**: (۲۹۲) دصغیري غیر مدخول بها منکوحي دمیړه او دپلار په مینځ کي څه اختلاف رامینځ ته سو دصغیري پلار ددي میړه ته وویل: ته صغیري ته جواب ورکړه هغه منظوره کړه په مجلس کي یوه سړي دصغیري میړه ته وویل: چي تا خپلي فلانۍ منکوحي ته جواب ورکړی؟ هغه ورته وویل چي ما جواب ورکړی په دې ډول هغه دری ځله وویل، ده هم دری ځله وویل چي جواب مي ورکړی دی، او دسیند په محاوره کي دجواب لفظ دطلاق پر ځای

(۱) ونصابها لغیرها من الحقوق سواء کان الحق مالا او غیره کنکاح وطلاق الخ رجلان اورجل وامراتان (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار کتاب الشهادت ج۴ ص ۵۱۵. ط. س. ج ۵ ص ۴۶۵). ظفیر

(۲) الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب الکنایات ج۲ ص ۶۴۰. ط. س. ج۳ ص ۳۰۱. ظفیر

(۳) ایضا ج۲ ص ۶۴۵ - ۶۴۲. ط. س. ج۳ ص ۳۵۲. ظفیر

مستعمل دی نو په دي صورت کي پر ذکر سوي صغيره يو طلاق واقع سو او که دری؟
جواب: په شامي کي دي: بخلاف فارسية قوله سرحتك وهو رها کردم لانه صار صريحا في العرف إلى ان قال فإذا قال رها کردم ای سرحتك يقع به الرجعی مع ان اصله كناية ايضا وما ذاك الا لانه غلب فی عرف الفرس استعماله فی الطلاق الخ (۱) معلومه سوه چي په دي صورت کي چي کله لفظ دجواب په عرف کي دطلاق په معنی مستعمل دی نو ذکر سوي ښځه طلاقه سوه خو له دي امله چي دا صغيره غير مدخوله ده نو په يوه طلاق سره بائنه سوه او دوهم او دريم طلاق واقع نه سو، کما هو مسلم ومصرح فی کتب الفقه. (۲)

ما طلاق درکړی چي کمی خواته دي خوښه وي ولاړه سه نو څه حکم دی؟ سوال: (۲۹۳)
مولا بخش وروسته له دي چي خپل زوی ته يي دمرګ اخطار ورکی خپلي ښځي ته طلاق ورکی يو ځل مولا بخش په خپله ژبه دا وويل چي ما طلاق ورکی چي کم ځای ته ددي خوښه وي نو ولاړه دي سي دراهون يوه مولوي صاحب دا وويل چي بي له حلالی نکاح صحيح نه ده دری مياشتي وروسته مولا بخش خپلي ښځي ته بل طلاق ورکی بيا يي دبل چا سره نکاح وکړه چي کله هلته دری مياشتي واوسيده بيا يي دمولا بخش سره نکاح وکړه په دي مينځ کي دمولا بخش سره خپلوانو خپلوي بنده کړه نو دده متعلق څه حکم دی؟
جواب: په دی صورت کي دمولابخش پرښځه دوه بائن طلاقونه واقع سوه که مولابخش هغه ساتل غواړي نو دهغي سره دوباره نکاح بي له حلالي کولای سي او حلالي ته اړتيا نسته (۳) او دراهون اوسيدونکي مولوي صاحب چي کمه طريقه بيان کړي پرهغه بنسټ خپلوانو او قريبانو ته داجائز نه دي چي دوي مولابخش تنګ کړي او دخپلوي څخه يي جدا کړي بلکه دمولا بخش زوی ددي سزا حقدار دی ځکه چي ده پلارته ښکنځل کړي دي او هغه يې مجبور کړی دی او طلاق يي په اچولی دی او خپلي مورته يي هم ښکنځل کړي دي اووهلي يي هم ده نو پرخپلوانو باندي لازم دي چي دمولا بخش زوی دخپلوي څخه وباسي او تعلقات ورسره ختم کړي ترڅو چي ده توبه نه وي ايستلي او دمور او

(۱) ردالمحتار باب الکنايات ج۲ ص۷۳۸. ط. س. ج ۳ ص ۲۹۹. ظفير
(۲) وان فرقت بانت بالاولی ولذا لم تقع الثانية بخلاف الموطوئة حيث يقع الکل وکذا انت طالق ثلاثا متفرقات (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب الصريح ج۲ ص۷۲۲. ط. س. ج۳ ص۲۸۶). ظفير
(۳) اذا کان الطلاق بائنا دون الثلاث فله ان يتزوجها فی العدة وبعد انقضاء العدة لان حل المحلية باق لان زواله معلق بالطلقة الثالثة فينعدم قبل وقع العين في العدة لاشتباه النسب ولا اشتباه فی اطلاقه (هدايه باب الرجعة فصل فيما تحل به المطلقة ج۲ ص۳۷۹). ظفير

دپلار څخه يي معافي نه وي غوښتي او دوی يي راضي کړي نه وي او ددوی دخدمت او اطاعت وعده يي نه وي کړي ترهغه وخته پوري دده سره هر قسم تعلق ساتل نه ښايي اوروا هم نه دي دمور او پلار اطاعت فرض دی الله ﷻ ددي تاکيد په قران مجيد کي ډير کړی دی، او حکم يي فرمايلی دی: فلا تقل لهما أف ولا تنهرهما، الآيه، (۱).

جواب صحيح دی دابنځه طلاقه سوي ده خو مولا بخش ورسره نکاح کولای سي او مولوي صاحب چي کمه خبره کړي ده هغه دده دناپوهي ښکارندويه ده.

په لاندي ليکل سوي صورت کی طلاق واقع دي اوکه نه؟ **سوال**: (۲۹۴) يوه سړي په غصه کي ښځي ته دری طلاقه ورکړه په دي وخت کي دسړي په قريبانو کي يوه ښځه موجوده وه اوپه نژدي کور کي يوسړی ناست وو هغه هم دری طلاقه واوريدل او په يوه بل کورکي يوي ښځي هم دا الفاظ دطلاق واوريدل هغي ښځي خپلو قريبانو ښځو ته وويل چي فلاني خپلي ښځي ته دری طلاقه ورکړل دکلي خلکو چي دا واوريدل نو دده کورته راغلل مطلقی ښځي وويل چي زما سامان راکړه ميړه ورته وويل چي کم ستا سامان دی هغه واخله په لويه غونډه کي ښځي خپل سامان واخيستی او دخپلو قريبانو کره ولاړه وروسته ددي څخه چي خلکو ملامت کی اوس ميړه وايي چي ما طلاق نه دی ورکړی په همدي بناء بل سړي وويل داسي مه وايه که ددي قريبان يې واوري نو خبر به دي واخلي ده وويل بي شکه ما خپلي ښځي ته دری طلاقه ورکړي دي ليکن يوشاهد خو هم راولی نوپه دغه وخت کي ديوي ښځي څخه ماسوا بل څوك نه وو او هغه عند الشرع معتبره نه ده اوس دا سړی دطلاق څخه انکار کوي او وايي چي ما هغي ته طلاق نه دی ورکړی نو په دي صورت کي شرعًا څه حکم دی حال دادی چي ښځي ته دطلاق اضافت هم نه دی سوی او شاهد دديوال شاته دطلاق لفظ اوريدلی دی نو طلاق واقع سو اوکه نه؟

جواب: اقول وبالله التوفيق داضافت په اړوند په شامي کي داتصريح سوي ده چي داضافت مصرح کيدل شرط نه دي قرائن هم کافي دي حيث قال: ولا يلزم كون الاضافة صريحة في كلامه الى ان قال ويؤيده ما في البحر لوقال امرأة طالق اوقال طلقت امرأة ثلاثا وقال لم اعن امراتي يصدق ويفهم منه انه لو لم يقل ذلك تطلق امرأته لان العادة ان من له امرأة انما يحلف بطلاقها لا بطلاق غيرها فقوله اني حلفت بالطلاق ينصرف اليها ما لم يرد غيرها الخ (۲) اودپردي تر شا دشهادت په اړوند په درمختارکي دي: (۳) ولا

(۱) سوره الاسراء رکوع ۳. ظفير
(۲) ردالمحتار باب الصريح ج۲ ص۵۹۰ - ۵۹۱. ط. س. ج۳ ص۲۳۸. ظفير
(۳) الدرالمختار على هامش ردالمحتار کتاب الشهادات ج۲ ص۵۱۸. ط. س. ج۵ ص۴۲۸. ظفير

يشهد علی محجب بسماعه منه الا اذا تبين القائل بان لم يكن فی البيت غيره الخ ددي شخه معلومه سوه چي كله ددي امر يقين وي چي دا ويونكی سړی دی نو اوريدونكی شاهدي وركولای سي خوكه دقاضی په وړاندي دی دا امر ظاهر كړي چي ما غائبانه واوريدل او شاهدي وركوم نوقاضی به ده ته اعتبار نه وركوي په هرحال دا امور دقاضی متعلق دي مفتي په داسي حالت كي دا فتوی وركولای سي چي طلاق واقع سوی دی ځكه اضافت إلی الزوجه اگر كه صراحتا نسته ليكن قرائن پر دي دلالت كوي چي دا ښځه خپلي ښځي ته وايي خصوصا كله چي خبره دهغي سره وي او هغه مخاطبه وي نو په داسي حالت كي كه ووايي چي طلاق دی نو مراد به ښځي ته طلاق وركول وي او شاهد چي كله دبل ځای شخه اوري او پوهيږي چي طلاق وركوونكی فلانی سړی دی نو هغه دطلاق شاهدي وركولای سي اوكه دا بيان ونكړي چي زه په بل ځای كي وم نو دهغه شاهدي معتبريږي البته كه دا ظاهره كړي چي زه په بل ځای كي وم نو بيا به قاضي دده شاهدي ته اعتبار نه وركوي برسيره پردي ديوه بل سړي په وړاندي هم ده اقرار كړی دی چي ما بيشكه دری طلاقه وركړي دی خو دوی به شاهد څوك وړاندي كوي هلته خو ديوي ښځي شخه ماسوا بل څوك موجود نه وو ددي شخه معلوميږي چي دميړه په خيال كي بي له وجوده دشاهدانو شخه طلاق نه واقع كيږي او حال دا دی چي طلاق يوازي هم واقع كيږي مثلا يو سړی يوازي دی اوښځي ته طلاق وركړي نوهم طلاق واقع كيږي دشاهدانو شتون صرف هغه وخت ضروري دي چي ميړه منكر وي نوښځه په ذريعه دشاهدانو طلاق ثابتولای سي اوكه ميړه اقرار وكړي چي بي شكه ما طلاق وركړی دی اوهلته څوك موجود نه وي نوبيا هم طلاق واقع كيږي او كه دی داقرار شخه انكار هم وكړي نو البته ددوو سړيانو يا يوه سړي او دوو ښځو په شاهدي به دا اقرار ثابت او دطلاق حكم به وسی په هرحال كه ميړه دطلاق شخه بالكل انكار كوي او ددي بل سړی په وړاندي چي يې كم اقرار كړی وو دهغه شخه هم منكر وي او داقرار اوريدونكی صرف يوسړی وي اونور هلته هيڅوك هم نه وه او داصل طلاق وركولو په وخت كي په هغه ځای كي صرف يوه ښځه ده اونور شاهدان دا بيان وكړي چي موږ په بل ځای كي وو او موږ دديوال شاته دطلاق لفظ اوريدلی دی نو په داسی حالت كي به بيشكه حكم دطلاق نه كيږي.

<u>ددوو بائنو طلاقو شخه وروسته وطي حرامه سوه او دعدت شخه وروسته دريم طلاق نه واقع كيږي دوباره نكاح كولای سي گر چي حمل وي</u>: **سوال**: (۲۹۵) يو عاقل بالغ خپله ښځه په سبب دنافرماني دغصی په حالت كي ووهله او دكوره يي وايستله او ورته ويي ويل ته

زما دکور څخه ولاړه سه او زه تا بالکل نه ساتم او طلاق مي درکی چي کمي خواته دي خوښه وي ولاړه سه تا زما جامي دلمانځه لپاره ولي ونه مینځلي زما خبره دي ولي ونه منله سړی تر څو ورځو پوري پرکور و او ښځه هم پرکور وه څه موده وروسته سړی مسافر سو او یوه زمانه وروسته کور ته راغی او دښځي څخه جلا اوسیدی ښځه به ده ته راتلله اوده به دکوروالي څخه ځان ساتی چي کله ښځه برابره تله او راتله نو یوه ورځ یي پرښځه رحم راغی او دشهوت دوجهي یي کوروالی ورسره وکی او بیا یي وروسته هم بي له نکاح کوروالی کوی او دعدت دشمیر او نورو حسابو یي هیڅ پروا ونه کړه په همدې حالت کي اوس بیا هغه سړي په دوهم ځل طلاق پرپانه ولیکی او ښځي ته یي ورکی ښځي ته یي وویل ته ولاړه سه دا دخپل مور او پلار کورته ولاړه اوڅو ورځي وروسته بیا راغله او دهمدي سړي په کور کي په اوسیدو سوه دبل چا کورته نه ځي اوس دي سړي چي دچا حمل دی څلور میاشتي وروسته دهمدي ښځي سره په حالت دحمل کي نکاح وکړه اوس ماشوم په ګیدړه کي دی نو دا نکاح حلاله ده اوکه حرامه؟ دهغه سړي سره نکاح وسوه دچا چي دا ښځه ده او دهغه حمل دی دهغه سړي سره نکاح سویده اوس یو څو کسان وایي چي دهغي سره دحمل په حالت کي نکاح صحیح نه سوه، یو عالم هم دانکاح نه سي حلالولی خبر په موږ کي څوك عالم نه سته؟

جواب: اول چي کله سړي خپلي ښځي ته طلاق ورکی نو هغه وخت دوه بائن طلاقونه واقع سوه یو په لفظ دکنایي او بل په لفظ دصریح طلاق سره په دي کي دوهمه نکاح داول میړه سره په عدت کي او وروسته دعدت څخه صحیح ده (۱) او چي کله څه موده وروسته میړه کورته راغی او بغیر ددوهمي نکاح څخه یي کوروالی وکی نو دا حرام کار وسو اوکه په همدي موده کي داول طلاق عدت تیر سوی وي نو دوباره یي چي کمه پرچه دطلاق ولیکله په هغي سره طلاق واقع نه سو (۲) ددي وجهي نکاح داول میړه بي له حلالي دهمدي ښځي سره صحیح ده او په حالت دحمل کي هم نکاح صحیح ده. (۳)

په لاندي صورت کی طلاق واقع سو او که نه؟ **سوال**: (۲۹۲) زید په قسم سره بیان کوي چي ما خپلي ښځي هندي ته طلاق نه دی ورکړی او هنده په قسم سره بیان کوي چي زما میړه

(۱) واذا کان الطلاق بائنا دون الثلاث فله ان یتزوجها فی العدة وبعد انقضائها لان المحلیة باق لان زواله معلق بالطلقة الثلاثة (هدایه باب الرجعة ج ۲ ص ۳۷۹). ظفیر

(۲) الصریح یلحق الصریح ویلحق البائن بشرط العدة والبائن یلحق الصریح (درمختار) قوله بشرط العدة هذا الشرط لابد منه فی جمیع صور اللحاق فالاولی تاخیره عنها (ردالمحتار باب الکنایات ج۲ ص۶۴۵. ط. س. ج۳ ص ۳۰۶). ظفیر

(۳) وصح نکاح حبلی (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار فصل فی المحرمات ج۲ ص۴۰۱. ط. س. ج۳ ص۴۸). ظفیر

زيد ماته طلاق راکړی دی نو آيا هنده طلاقه سوه او که نه؟

جواب: که دښځي سره دوه عادل شاهدان دطلاق نه وي او ميړه دطلاق څخه انکار کوي نو طلاق ثابت نه دی.

بې داضافت څخه يې چاته وليکل چې: پريږدم، طلاق طلاق طلاق نيت يې دهيڅ شي هم نه وو نو څه حکم دی؟ **سوال**: (۲۹۷) يوه سړي بې له وجوده دخپلي ښځي بل چاته او هيچا ته داضافت او خطاب کولو څخه پرته دا وليکل او ويي ليږل چې: زه يي پريږدم طلاق طلاق طلاق، ددي څخه وروسته خلګو دليکونکي څخه پوښتنه وکړه چې په دي ليکلو سره ستا نيت څه وو نوکاتب وويل زماهيڅ نيت هم نه ؤ نو دده ښځه طلاقه سوه اوکه نه؟

جواب: په شامي جلد ثاني باب الصريح کي دي: ويؤيده ما في البحر لو قال امرأة طالق او قال طلقت امرأة ثلاثا وقال لم اعن امرأتي يصدق ويفهم منه انه لو لم يقل ذلك تطلق امرأته لان العادة ان من له امرأة انما يحلف بطلاقها لا بطلاق غيرها فقوله اني حلفت بالطلاق ينصرف اليها ما لم يرد غيرها الخ [1] ددي عبارت څخه دا خبره ثابتيږي چې که دي سړي وويل چې په دي الفاظو زما مراد زما ښځه نه وه نو دده دقول تصديق به کيږي او دده ښځه نه طلاقيږي اوکه دی دانه وايي نو په ظاهر الحال به دده ښځه طلاقيږي لکه څنګه چې ددي عبارت څخه معلومه ده: لان العادة من له امرأة الخ.

ښځي ته يې وويل: پري مې ښودلې، خو اوس انکار کوي نو څه حکم دی؟ **سوال**: (۲۹۸) يوه سړي دغصې په حالت کي خپلي ښځي ته وويل چې ماته پريښودي او پري به دي ږدم او دطلاق ذکر هم په سخته غصه کي راغی ليکن اوس ميړه دطلاق څخه انکار کوي او ښځه وايي چې طلاق دي راکړی دی نو څه حکم دی؟

جواب: که طلاق ورکوونکی بالغ وي او دوه عادلان شاهدان دطلاق موجود وی نو طلاق واقع سو اود ميړه انکار معتبر نه دی اوکه دوه عادل شاهدان دطلاق نه وي نو بيا دطلاق څخه دانکار په صورت کي طلاق نه واقع کيږي. [2]

ښځه دخو طلاقو ورکول بيانوي او ميړه صرف ديوه اقرار کوي نوڅه حکم دی؟ **سوال**: (۲۹۹) دهندي بيان دی چې ددي ميړه زيد څوکاله وړاندي دا الفاظ ويلي وه چې ما هم دوه طلاقه درکړي وه، په همدي بناء هندي ورته وويل چې تاکله هم داسي نه دي ويلي ميړه

---

[1] ردالمحتار کتاب الطلاق باب الصريح ج۲ ص۵۹۱. ط. س. ج۳ ص۲۴۸. ظفير

[2] ويقع طلاق کل زوج اذا کان عاقلا بالغا (هدايه کتاب الطلاق ج۲ ص۳۳۷) ونصابها لغيرها من الحقوق سواء کان الحق مالا او غيره کنکاح وطلاق الخ رجلان الخ او رجل وامرأتين (الدرالمختار على هامش ردالمحتار کتاب الشهادة ج۲ ص۵۱۰ – ۵۱۱، ط. س. ج۳ ص ۴۲۵). ظفير

وويل که مي نه وي درکړي نواوس مي دوه طلاقه درکړي دي اوس درې څلور کاله وروسته يي دا الفاظ وويل چي زه تاته يو طلاق درکوم او که ته زما خبره نه مني نو درى مياشتي وروسته به دوهم، او دهغه څخه درى مياشتي وروسته به دريم طلاق درکړم، دا لفظ زما ميرہ په حالت دغصي کي ووايه او بالکل په يوځاى کي يي وويل او هيڅ شاهد نسته او دهندي ميرہ ددي بيان تکذيب کوي او وايي چي ماته بالکل نه دي ياد چي مادا الفاظ کله ويلي دي چي که مي دوه طلاقه نه وي درکړي نو اوس مي دوه طلاقه درکړل اوس مى صرف يوځل دا الفاظ وويل چي زه تاته طلاق درکوم الخ خو نه زما وړاندي نيت دهندي دپرينبودلو وو اونه په دي اراده ما لفظ دطلاق هغي ته ويلي دي بلکه صرف دتاديب لپاره مي يوځل دژبي څخه ووتل په دي صورت کي هنده دزيد دنکاح څخه ووتله اوکه نه؟ او رجوع کولاى سي او که نه؟

جواب: ميره چي کله دهندي دبيان تکذيب کوي اوهيڅ شاهد هم نه سته نو دميرہ قول به معتبر وي ([1]) او ده چي اوس کم يو طلاق ورکړى دى هغه به واقع وي او دا يو طلاق رجعي دى په عدت کي رجوع بي له نکاح څخه صحيح ده او دعدت څخه وروسته دنوي نکاح سره رجوع کولاى سي ([2]) خو که هندي ته يقين وي چي ميره دا الفاظ ويلي دي نو ددي په حق کي حرمت ثابت دى دي لره په کاردي چي دميره څخه جلا سي اوبي له حلالي دده سره نکاح ونه کړي ځکه چي: المرأة کالقاضی ([3]) دفقه په کتابونو کي ذکر دى.

<u>که مى فلانى کار وکى نو زما ﭘرښځه درى طلاقه، که ددي کار څخه مخکي دي ښځي ته يو طلاق ورکړي او دعدت دختميدو څخه وروسته هغه کار وکړي بيا نکاح وکړي نوڅه حکم دي؟</u> **سوال**: (۳۰۰) زيد دخپلي خواښي سره په جګړه کي دا وويل چي که زه ستاسي کورته درغلم يامي ستاسي کار وکى نو زما ﭘرښځه درى طلاقه زيد که دکار کولو څخه مخکي يا دخواښي کورته دراتلو څخه مخکي خپلي ښځي ته يو طلاق ورکړي او دعدت دختميدو څخه وروسته دخپلي خواښي په ويلو دهغي کار وکړي او بيا دخپلي ښځي سره نکاح وکړي نو دا امر جائز دى اوکه نه؟ او دقسم څخه به خلاص سي اوکه نه؟

([1]) حديث نبوي دى: البينة على المدعي واليمين على من أنكر، نوښځه مدعيه ده او ميره منکر دى نو شاهد دښځي پرذمه دى چي دى ثبوت ورنه کي نو دميره پرقول به فيصله وي. ظفير

([2]) اذا طلق الرجل امرأته تطليقة رجعية او تطليقتين فله ان يراجعها في عدتها رضيت بذلك او لم ترض الخ واذا كان الطلاق بائنا دون الثلث فله ان يزوجها فى العدة وبعد انقضاءها (هدايه باب الرجعة ج۲ ص۳۷۳ – ۳۷۸). محمد ظفير الدين غفر الله له

([3]) والمراة كالقاضى اذا سمعتها او اخبرها عدل لايحل لها تمكينه والفتوى انه ليس لها قتله ولا تقتل نفسها بمال او تهرب (ردالمحتار كتاب الطلاق باب الصريح ج۲ ص۵۸۴. ط. س. ج ۳ ص۲۵۱). ظفير

جواب: قال فی الدرالمختار وتنحل الیمین بعد وجود الشرط مطلقا لکن ان وجد فی الملك طلقت وعتق والا لا فحیلة من علق الثلث بدخول الدار ان یطلقها واحدة ثم بعد العدة تدخلها فتنحل الیمین فینکحها الخ (۱) نو معلومه سوه چي په پوښتل سوي صورت کي ددي ښځي سره بي له حلالي نکاح کولای سي او دقسم څخه به خلاص سي.

طلاقونه یي دوه ورکړي وه خو په بیان کی یی په دروغو دری وویل نو څو طلاقه به واقع وي؟ **سوال**: (۳۰۱) یوه سړي خپلي ښځي ته دوه طلاقه ورکړل څو ورځي وروسته یو مولوي صاحب ددي معاملي دفیصلي لپاره راغی او په عامه غونډه کي یي ددي مطلق سړي څخه پوښتنه وکړه چي تا خپلي ښځي ته څو طلاقونه ورکړي دي نوده وویل چي دری طلاق مغلظه بیا دری څلور ورځي وروسته دي سړی وویل چي ماپه اصل کي دوه طلاقه ورکړي وه او دوه شاهدان هم وه ما په دروغو دری وویل ایا دا به دوه طلاقه وي او که نه؟

جواب: چي کله دي سړي دذکر سوي پوښتني په جواب کي وویل چي: دری مغلظ طلاقونه نو دده پرښځه دری طلاقه واقع سوه او رجوع کول ددي کلام څخه صحیح نه دی: فی الدرالمختار ولو نکحها قبل امس وقع الآن (ای فی قوله انت طالق امس) لان الانشاء فی الماضی انشاء فی الحال الخ (۲) وقال علیه الصلاة والسلام ثلث جدهن جد وهزلهن جد الحدیث (۳).

دطلاق په طلب کولو یی وویل دطلاق په شان دی، نوپه دي سره طلاق وسو اوکه نه؟ **سوال**: (۳۰۲) یوه سړي خپله ښځه دډیري مودي راهیسي پرېښي ده ډیره موده وروسته ښځي خپل میړه ته داسي پیغام ولیږی چي ما بوزه هغه انکار وکی بیا ښځي طلاق طلب کی هغه وویل دطلاق په شان دی او بیایي دوباره همدغه لفظ ووایه نو ددي دواړو لفظونو په ویلو سره طلاق واقع سو اوکه نه؟

جواب: په دي صورت کي پرښځه باندي طلاق رجعي واقع سو په فتاوی عالمګیري کي دي: سئل نجم الدین عمن قالت له امرأته طلقنی فقال: نه ترا طلاق مانده است نه نکاح بر خیز وره ګیر، قال هذا اقرار انه قد طلقها ثلثا کذا فی المحیط (۴) دذکر سوي عبارت څخه معلومیږي چي دا الفاظ ویل هم دطلاق اقرار دی.

---

(۱) الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب التعلیق ج۲ ص۲۹۰. ط. س. ج۳ ص۳۵۵). ظفیر
(۲) ایضا باب الصریح ج۲ ص۲۰۷. ط. س. ج۳ ص۲۷۲. ظفیر
(۳) مشکوة باب الخلع والطلاق. ظفیر
(۴) عالمګیري مصري فصل سابع فی الطلاق بالالفاظ الفارسیة ج۱ ص۴۰۷. ط. ماجدیه ج۱ ص۳۸۱. ظفیر

دوو سړيانو دښځو دبدلولو کلکه اراده وکړه نو طلاق واقع سو او که نه؟ سوال: (۳۰۳) دوو سړيانو په خپل مينځ کي دا کلکه اراده وکړه چي ديو بل سره به ښځي بدلي کړو چي کله کورته ولاړل نو ښځو دا منظوره نه کړه نو آيا په دي وعده سره ددوی پرښځو طلاق واقع سو اوکه نه؟

جواب: په دي صورت کي ددوی ښځي نه دي طلاقي سوي.

طلاق مي درکی طلاق مي درکی، چي دري ځله ووايي او ويونکی وايي چي مراد مي تاکيد وو نو څه حکم دی؟ سوال: (۳۰۴) زيد خپلي ښځي ته په حالت دغصي کي دري طلاقه ورکړل په صريحو او جدا جدا الفاظو سره چي هغه الفاظ دادي: (تاته طلاق دی، تاته طلاق دی، تاته طلاق دی) اوس زيد وايي چي مراد په دي الفاظو سره تاکيد دی نو ددي وجهي يو طلاقِ رجعي واقع سو عمر وايي چي دا طلاق صريح دی نيت ته ضرورت نسته پکي، نو څه حکم دی؟

جواب: په درمختار کي دي: کرر لفظ الطلاق وقع الکل وان نوی التاکيد دين الخ قوله وان نوی التاکيد دين ای وقع الکل قضاء الخ شامي [1] ددي څخه معلومه سوه چي قاضي به اعتبار نه ورکوي او ديانةً دده نيت معتبر دی.

ميړه ته وويل سوه چي: ته ووايه چي دفلاني لور ته مي طلاق ورکی، ده په جواب کي وويل مور قبول کړه نوڅه حکم دی؟ سوال: (۳۰۵) هنده دلسو کلونو راهيسي دزيد په نکاح کي ده يوه مياشت وسوه چي هندي نهه يا لس کسان ورسره کړه او کورته ورلاړه او دهغو په مخ کي هندي وويل زيد نامرد دی ماته طلاق ورځخه راواچوئ زيد وويل چي زه نامرد نه يم ما دا ځان ته نژدي کيدوته نه پريږدي خلګو هندي ته وويل چي ته ځو ورځي نوره هم ورسره واوسيږه مور به تجربه وکړو نو هندي وويل چي زه يو ساعت هم نه سم اوسيدلای بيا خلګو زيد وترټی او ورته وې ويل چي کله هنده نه درسره اوسيږي نوته طلاق ورکړه زيد چپ سو اويو سړي ودريدی او ويي ويل چي ته ووايه ما دفلاني لورته طلاق ورکی زيد په سبب دبيري مجبور سو او ويي ويل مور قبول کړي اولفظ دطلاق وغيره يي هيڅ هم په ژبه ونه وايه نو په دي صورت کي طلاق واقع سو که نه؟

جواب: په درمختار کي دي: قالت لزوجها طلقنی فقال فعلت طلقت، فی الشامي قوله فقال فعلت ای طلقت بقرينة الطلب [2] ددي عبارت څخه ښکاره سوه چي په پوښتل سوي صورت کي دميړه داويل چي مور قبوله کړه ددي مطلب دادی چي مور طلاق ورکی نو پر

---

[1] ردالمحتار باب طلاق غير المدخول بها ج۲ ص۲۳۲. ط. س. ج۳ ص۲۹۳. ظفير

[2] ردالمحتار کتاب الطلاق باب الصريح ج۱ص۲۲۳، ط. س. ج۲ ص۲۹۴. ظفير

هنده طلاق واقع سو خوطلاق رجعي دی زيد په عدت کي دننه ديته رجوع کولای سي که هنده مدخوله وي اوکه غير مدخوله وي نوطلاق بائن واقع سو چي په هغه کي رجوع صحيح نه ده.

<u>طلاق مي درکړ، درکړ، درکړ يي وويل نو کم طلاق واقع سو؟</u> سوال: (۳۰۶) يوي ښځي خپل ميړه ته وويل چي ماته طلاق راکړه طلاق راکړه؟ ميړه وويل ما تاته طلاق درکی درکی درکی نو په دي صورت کي کم طلاق واقع سو؟ او ددوهمي نکاح ضرورت سته او که نه؟

جواب: ظاهرا مراد دميړه دتکرار دلفظ د (درکړي) څخه تاکيد دطلاقو دی نو ددي وجهي په دي صورت کي دده پرښځه يو طلاق رجعي واقع سو نو په عدت کي بي له نکاح کولو څخه ديته رجوع کولای سي يعني دا ډول دي ووايي چي ما تاته بيا رجوع کړيده نو په دي ويلوسره به مخکنۍ نکاح باقي پاته سي. ([1])

<u>په مسئوله صورت کی څه حکم دی؟</u> سوال: (۳۰۷) عبدالله خپلي بي بي ته يو طلاق رجعي ورکی اوپه همدغه ورځ يي ورته رجوع وکړه بيا لږ زمانه وروسته عبدالله خپلي بي بي ته وويل چي زه تاته يو ترکيب درښيم چي کله ته غواړي نوپه خپله طلاق واخله هغه دا چي فلانی ښاخ دفلانۍ درختي ته په خپل لاس سره مات کړي نوته به طلاقه يي نو دعبدالله ښځي دتهوکي په طورسره په خپل وروز دغه ښاخ رامات کی او خپل ميړه ته يي وليږی، ددي څخه وروسته عبدالله يو طلاق رجعي ورکی اورجوع يي وکړه نو ايا دا ښځه خو پرعبدالله حرامه نه سوه؟ او اوس عبدالله ته څه کول په کار دي؟

جواب: تر اوسه خو پرعبدالله دده ښځه حرامه نه سوه ځکه چي دوه طلاقه رجعي پردي واقع سوه او ددواړو څخه وروسته رجوع سويده نو دابنځه دعبدالله لپاره حلاله ده (اوپه ښاخ ماتولو چي کم طلاق معلق وو هغه واقع نه سو ځکه چي شرط دښځي لخوا موجود نه سو. ظفير) نو داهم دوه طلاقه سوه چي په دي کي رجوع صحيح ([2]) ده خو که عبدالله بيا طلاق ورکی نو بيابه رجوع صحيح نه وي او بي له حلالي څخه به نکاح صحيح نه وي ځکه چي په بيا طلاق ورکولو به دده ښځه مطلقه ثلاثه سي، کذا فی کتب الفقه.

([1]) لو قالت طلقنی طلقنی فقالت طلقت فواحدة ان لم ينو الثلاث ولو عطفت بالواو فثلاث (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب الصريح ج۲ ص۷۴۳. ط. س. ج۳ ص۲۹۴) اذا طلق الرجل امرأته تطليقة رجعية او تطليقتين فله ان يراجعها فی عدتها رضيت بذلك او لم ترض (هدايه باب الرجعة ج۲ ص۳۷۴). ظفير

([2]) اذا طلق الرجل امرأته تطليقه رجعية او تطليقتين فله ان يراجع فی عدتها رضيت ام لم ترضی (هدايه باب الرجعة ج۲ ص۲۷۴). ظفير

دطلاق او ددوهم واده څخه وروسته په بلوغ او عدم بلوغ کی اختلاف: **سوال**: (۳۰۸) زمري نومي سړي خپلي ښځي زرميني ته طلاق ورکی او دي ښځي دعدت څخه وروسته داسمعيل نومي سړي سره واده وکی اوس پردي جنجال دی چي دزمري قريبان وايي چي زمري نابالغ دی چي دده په باره کي يوعالم ته شاهدان تير سوه چي زمری ديوولسو کلو دی ذکر سوي عالم ددوهم ناکح اسماعيل او دزرميني دحضور څخه پرته حکم دعدم بلوغ دزمري وکی او دشير او دبسان نکاح يي بر قراره وساتله اسمعيل دوهم ځل دڅو عالمانو او دمعززو سړيو په وړاندي په عام مجلس کي دوه شاهدان وړاندي کړل چي په دي مجلس کي زمری او دهغه خپلوان هم موجود وه دشهادت څخه ثابتيږي چي زمری داتلسو کلو دی او دا شهادت هم په قسم کولو سره دی اوپه ظاهره څه علامه دبلوغ نه ښکاري صرف دده بلوغ دکلونو په تيريدو سره کيدای سي نوپه دي صورت کي شاهدان دچا معتبر دي دبلوغ او که دعدم بلوغ؟

جواب: که څه علامه دبلوغ ظاهره نه وي نوسړی يا ښځه چي دپنځلسو کالو سي دبلوغ حکم ورباندي کول کيږي اوس چي کله ددغه هلك عمر اتلس کاله ثابت سوی دی نو طلاق يي واقع سو: قال فی الدرالمختار وان لم يوجد فيهما شيء فحتی يتم لكل منهما خمس عشرة سنة به يفتی (۱) او طلاق دبالغ واقع کيږي او دنابالغ طلاق نه واقع کيږي: قال في الدرالمختار ويقع طلاق كل زوج عاقل بالغ الخ ولا يقع طلاق المولي علی امرأة عبده الخ والصبی الخ (۲) او کله چي په دواړو شهادتونو کي اختلاف رامينځ ته سو دزمري دعمر په هکله نو دواړه ساقط دي او عالم بلا تحكيم قائم مقام دقاضي نه سی کيدای او له قاضي پرته دبل چا په مخ کي شاهدي ويل معتبر نه دي. (۳) نو ددي امر تحقيق دسره دوباره کول په کار دي چي زمری په کمه ورځ او په کم تاريخ اوپه کم کال کي زيږيدلی دی نو په دي سره به دده عمر معلوم سي دولادت او داسي نورو تاريخونه په سرکاري کاغذونو کي درج کيږي دهغو څخه حال معلوميدای سي چي زمری په اعتبار دعمر بالغ دی او که نه؟ خلاصه داده چي که دده بلوغ په وخت دطلاق ورکولو کي محقق سي نو دده طلاق واقع دی کني نه دی واقع.

---

(۱) الدرالمختار علی هامش ردالمحتار کتاب الحجر فصل بلوغ الغلام ج۵ ص۱۳۲. ط. س. ج۲ ص۱۵۳). ظ

(۲) ردالمحتار کتاب الطلاق ج۲ ص۵۷۹ - ۵۸۰. ط. س. ج۳ ص۲۵۳. ظفير

(۳) وكذا تجب مطابقة الشهادتين لفظا ومعنيً الخ بطريق الوضع (درمختار) حتی لو ادعي رجل مائة درهم فشهد شاهد بدرهم واخر بدرهمين الخ لم تقبل عند ابي حنيفة (ردالمحتار باب الاختلاف فی الشهادة ج۴ ص۵۳۸. ط. س. ج ۵ ص۴۹۳). ظفير

ښځه او میړه دطلاق څخه منکر دي او دري میاشتي وروسته شاهدي ورکول کیږي نوڅه حکم به وي؟ **سوال:** (۳۰۹) مدعیه او مدعي علیه دواړه دطلاق څخه منکر دي کوم یو مفتی یا عالم کولای سي چي بي له سببه دشهادته یعني په اول کي بي له طلبه دمدعي شاهدان حاضر کړي او بیا صرف مدعي علیه ځان ته حاضر کړي او بیا په اثبات دشهادت بي له جرحي او تعدیله حکم دطلاقِ مغلظ په عام مجلس کي ورکړي آیا دا ورته جائز دي او که نه؟ او طلاق مغلظ واقع دی اوکه نه؟ او دعوی دمدعي علیه په دي دلیل چي مفتی او دواړو شاهدانو سره له ملاقاته او ګاونډیتوبه په دي دریو میاشتو کي تر اوسه پوری ماته ولی اطلاع نه راکوله او دمفتی زما سره پخوانی دښمني ده او نور... شرعا مسموعه ده اوکه نه؟

جواب: په درمختار کي دي: والذي تقبل فیه الشهادة حسبة بدون الدعوی اربع عشر منها الوقف الخ قال في ردالمحتار وهي الوقف وطلاق الزوجة وایضا في ردالمحتار شاهد الحسبة اذا أخبرها بغیر عذر لا تقبل لفسقه اشباه عن القنیه ([1]) نو معلومه سوه چي که بي له عذره تاخیر دشاهد داداء دشهادت څخه ثابت سي نو عدم قبول دشهادت ضروري دی ([2]).

دطلاق دورکولو څخه وروسته دښځي سره یوځای سو نوڅه حکم دي؟ **سوال:** (۳۱۰) زید دکورنۍ جګړي په بناء خپلي ښځي ته طلاق ورکی په دریمه یا څلورمه ورځ یوه سړي هڅه و کړه چي زید او دده ښځه بیا سره یوځای سي یوه ځایي عالم فتوی ورکړه چي طلاق عائد نه دی، ځکه نو ښځه او میړه په پخواني ډول یوځای کیدای سي ددي څخه وروسته زید خپله ښځه دڅو سړیانو په مخ کي خپل کورته را وبلله په دي صورت کي شرعا دزید پر ښځه طلاق واقع سوی دی او که نه؟

جواب: که زید خپلي ښځي ته دري طلاقه نه وي ورکړي بلکه یو یا دوه طلاقه یي ورکړي وي نو بیا په عدت کي دننه زید خپلي ښځي ته رجوع کولای سي او رجوع کول یي خپلي ښځي ته صحیح دی ([3]) او که زید دري طلاقه ورکړي وي نو بیا هیڅ صورت درجوع

([1]) وګورئ: ردالمحتار کتاب الوقف مطلب المواضع التي تقبل فیها الشهادة حسبته بلا دعوی ج۳ ص۵۵۵. ط. س. ج۳ ص۴۵۹). ظفیر

([2]) ویجب الاداء بلا طلب لو الشهادة فی حقوق الله تعالی وهی کثیرة عد منها فی الاشباه اربعة عشر قال ومتی اخر شاهد الحسبة شهادة بلا عذر فسق فترد کطلاق امرأة (درمختار) قال فی الاشباه تقبل شهادة الحسبة بلا دعوی فی طلاق المرأة الخ (ردالمحتار کتاب الشهادات ج۴ ص۵۱۴. ط. س. ج۵ ص۴۲۳). ظفیر

([3]) اذا طلق الرجل امرأته تطلیقة رجعیة او تطلقتین فله ان یراجعها رضیت ام لم ترض (هدایه باب الرجعة ج۲ ص۳۷۴). ظفیر

کولو بي له حلالي نسته. کما قال الله تعالى: (الطلاق مرتان) ([1]) يعنى رجعي طلاق تر دوو طلاقو پوري دی بيايي فرمايلي دي: فان طلقها فلا تحل له من بعد حتى تنكح زوجا غيره، ([2]) نو که ميړه درې طلاقه ورکړي وي بيا دا ښځه دده لپاره حلاله نه ده ترڅو چي دبل ميړه سره نکاح ونه کړي او بيا هغه بل وروسته دجماع څخه طلاق ورنه کړي او دهغه عدت تيره نه سي تر دي مخکي اول ميړه ددي صحيح سره نکاح نه سي کولای. فقط

<u>دوه طلاقه يې ورکړل او داطلاع په ډول يې پلار ته وويل طلاق مي ورکی نوڅه حکم دی؟</u>

سوال: (۳۱۱) يوه سړي خپلي ښځي ته دوه ځله طلاق ورکی ددي څخه وروسته يي پلارته وويل چي ما طلاق ورکی پلار يي خوشکي وکړي او درې ورځي وروسته يي بيا نکاح ورسره وتړله، نو دا نکاح صحيح ده اوکه نه؟

جواب: په دي صورت کي که پلار ته په ويلو سره دده مطلب خبر ورکول وو دهمدغه طلاق او نوی طلاق ورکول يي مقصود نه وو نو همدغه دوه طلاقه چي کم يي اول ورکړی وه واقع سوه او دا دوه طلاقه رجعي دي په هغو کي په عدت کي رجوع کول بي له نکاح څخه صحيح دي او دعدت څخه وروسته نکاح بي له حلالي جائزه ده ([3]) او که يي پلار ته په ويلوکي غرض او نيت دبل طلاق ورکول وو نو په دي صورت کي دده پرښځه درې طلاقه واقع سوه اګرکه ښځه يي په همدغه ځای کي موجوده نه وي نو په دي صورت کي بي له حلالي داول ميړه سره دوباره نکاح نه سي کولای. هکذا فی کتب الفقه.

<u>څو ځله يي طلاق ورکړی دی خو ميړه انکار کوي نو ښځه څه وکړي؟</u> **سوال:** (۳۱۲) زيد خپل خلوت ته دبيده کيدو لپاره ولاړی دهندي وينا ده چي زه څه وخت ده ته ورغلم نو ويي ويل چي زمونږ کورته ځو ما وويل چي ستا مور او پلار خو زه مخکي لا دکور څخه شړلي يم او ډول ډول تکليفونه يي راکړي دي اوهر وخت يي سپکي سپوري راته ويلي دي لنډه دا چي زيد دا ټولي خبري واوريدي او دا يي وويل چي زما مور او پلار چي تاته هر څه وايي ته به هغه مني زه ستا خوراك او پوښاك نه سم زغملای ما تاته طلاق درکړی طلاق درکړی طلاق درکړی ماته پربيښي يي ما تاته طلاق درکړی زه ځم او تاته اجازت درکوم چي دچا سره دي زړه غواړي نو نکاح ورسره وکه هندي چي دزيد دا خبري واوريدي نو مورته راغله مور ورته وويل چي ته ځه اوس دهغه سره بيده سه او سبا به

([1]) سورة البقرة : رکوع ۱۲۹. ظفير

([2]) ايضا. ظفير

([3]) اذا طلق الرجل امرأته تطليقة رجعية او تطليقتين فله ان يراجعها الخ باب الرجعة ج۲ ص۳۷۴ واذا کان الطلاق بائنا دون الثلاث فله ان يتزوجها فی العدة وبعد انقضائها ص۳۷۸. ظفير

گورو سبا چي دزيد څخه پوښتنه وسوه نو دی منکر سو اوده وويل چي دا خو ما په ټوکه کي ويلي وه چي زه به تا ستا په خور بدله کړم او يا ستا په وريندار، دهندي ويناده چي ددي څخه مخکي هم ده ماته څو ځله طلاق راکړی دی اوزه دا ښه په وثوق سره وايم.

(۲) په داسي حالت کي هندي ته دزيد څخه جدا کيدل په کار دي اوکه نه؟

(۳) که يي زيد په وچ زور دخپل ځان سره وساتي نوڅه به کوي؟

جواب: (۱-۲) په داسي حالت کي هندي ته دخپل وس مطابق دزيد څخه بيليدل په کاردي اوکه هنده پردي قادره نه وي نو بيا گناه دزيد پرذمه ده په شامي جلد۲ ص۴۳۲ باب الصريح کي دي: والمرأة كالقاضي اذا سمعته او اخبرها عدل لا يحل لها تمكينه والفتوى على انه ليس لها قتله ولا تقل نفسها بل تفدي نفسها بمال او قرب الخ وفي البزازية عن الاوزجندي انها ترفع الامر للقاضي فان حلف ولا بينة لها فلا إثم عليه. (۱)

(۳) په دي صورت کي به مفتی دا فتوی هندي ته ورکوي چي کله ستا په علم کي ستا ميړه باليقين تاته طلاقِ ثلاثه درکړي دي نو تاته دزيد سره اوسيدل او ده ته ورتلل جائز نه دي خو که قاضي او حاکم په سبب دنه وجود ددوو شاهدانو هنده ددي ميړه ته وسپارله لکه څنگه چي دقضا حکم دی نو گناه به پرزيد وي نه پرهندې. كمامر من انها ترفع الامر للقاضي فان حلف ولا بينة لها فلا إثم عليه، ردالمحتار. (۲)

دطلاق دارادي څخه پرته يي وويل ښه حرام، ښه طلاق، نو څه حکم دي؟ سوال: (۳۱۳) عمر بکر مجبور کی چي خپلي منکوحي ته طلاق ورکړي په بيا بيا مجبوررولو باندي بکر بي له ارادي دطلاقه وويل ښه حرام ښه طلاق بي له اضافته په صرف دومره ويلو سره طلاق واقع سو اوکه نه؟ که واقع سوی وي نو بيا به ددي عبارت: اذا لم يسم المرأة ولم يضف اليها الطلاق لم يقع به، څه مطلب وي؟ او که طلاق واقع سوی وي نو کم رجعي او که بائن او که ثلاثه؟

جواب: په دي صورت کي دده پرښځه باندي دوه بائن طلاقه واقع سوه لکه څنگه چي په شامي کي تصريح کړيده چي صراحة داضافت ضرورت نسته: لان العادة ان من له امرأة انما يحلف بطلاقها لا بطلاق غيرها فقوله اني حلفت بالطلاق ينصرف اليها ما لم يرد غيرها الخ وسيذكر قريبا ان من الالفاظ المستعملة: الطلاق يلزمني والحرام يلزمني وعلى الطلاق وعلى الحرام فيقع بلا نية للعرف الخ فاوقعوا به الطلاق مع انه ليس فيه اضافة الطلاق اليها صريحا فهذا مؤيد لما في القنية وظاهره انه لا يصدقه في انه لم يرد

---

(۱) وگوره ردالمحتار باب الصريح ج۲ ص ۵۹۴. ط. س. ج ۳ ص۲۵۱. ظفير

(۲) ردالمحتار باب الصريح ج ۲ ص ۵۹۴. ط. س. ج ۳ ص ۲۵۱) ظفير

امرأته للعرف. والله اعلم، شامي، پردي برسيره په دي صورت كي دا ذكر دي چي عمر دی مجبور كړي چي خپلي ښځي ته طلاق وركړی بيا دهغه په جواب كي ده دا وويل چي: ښه حرام ښه طلاق، دا صفا دليل ددي دی چي دهر چا دطلاق لپاره عمر دی مجبور كړی وو او حكم يي ورته كړی وو پرهغه به طلاق واقع وي او دعمر په قول كي اضافت موجود دی نو دبكر قول به هم دي ته منصرف كيږي لكه څنگه چي فقهاوو ذكر كړي دی چي يوه سړی يو چاته وويل چي آيا تا خپلي ښځي ته طلاق وركړی دی او هغه وويل چي هو! نو په دي سره طلاق واقع سو او حال دا دی چي دميړه په كلام كي نه دطلاق ذكر سته او نه داضافت نو دعمر پوښتنه پردي قرينه ده چي طلاق وركول هغي ښځي ته دي چي دكمي په اړوند عمر حكم كړی او په صالح لفظ كي دنيت ضرورت نسته او همدارنگه دكنايي په ځينو الفاظو كي چي كله دلالت دحال موجود وي طلاق ورباندی واقع كيږي نو دجواهرو دعبارت به دا مطلب سي چي كله ښځي ته داضافت څه قرينه موجوده نه وي او يا دا قول خلاف داصح دی.

ښځي ته په طلاق ويلو سره طلاق واقع كيږي او كه نه؟ سوال: (۳۱۴) زيد خپلي ښځي ته وويل ای طلاقی تا ماته بستره ولي نه ده هواره كړي نو په دي صورت كي طلاق واقع سو او كه نه؟ كله چي په دي لفظ سره طلاق وركول هم مقصود نه وي؟

جواب: ددي لفظ په ويلو سره دده ښځه طلاقه سوه اوپه صريح لفظ دطلاق كي دنيت ضرورت نسته خو كه يي دا لفظ يوځل ويلی وي نو يوطلاق رجعي واقع سو او په هغه كي په عدت كي دننه رجوع بي له نكاح څخه صحيح ده.

ښځه وايي پنځه شپږ ځله يي طلاق راكی او ميړه انكار كوي نوڅه حكم دی؟ سوال: (۳۱۵) دزيد او هندي يعني دزوجينو په مينځ كي دځينو كورنيو معاملاتو په وجه خفگان راغی تر دي چي نوبت طلاق ته ورسيدی خو په دوی كي لاندينی اختلاف دی، هنده وايي چي زما ميړه ماته دشپي راغلی او گېنې يي وغوښتلي ما جواب وركی چي گېنې ليري دي ته خوراك وكړه زيد دا جواب راكی چي خوراك خو مي وكی او ويي ويل چي فلانی فلانی گېنه ماته راكړه ضرورت دی چي كله يي گېنه واخيسته نوويي ويل ماتاتة طلاق دركړی دی هندي وويل خيال كوه داڅه وايي زيد شپږ ځله هم دغه الفاظ دطلاق چي ماتاته طلاق دركړی دی تكرار كړه دزيد څخه پوښتنه وسوه نو زيد وايي چي زه كورته ولاړم نو ماهندي ته وويل زما دپلار كورته ولاړه سه هندي جواب راكی چي خدای دي ما دغه درشل ته نه بيايي زيد وويل چي خداي دي ما په دي درشل نه راولي، او دابيانات دزوجينو دقسم سره دی او شهادت نسته نو په دي صورت كي عندالله طلاق واقع سو

اوکه نه؟ او دهندي چي کله په مخ کي دا الفاظ وویل سوه او دا یقین همورباندي لري نو په داسي حالت کي دهغي دزید یعني میړه سره دښځیتوب دتعلق ساتلو څه حکم دی؟

جواب: چي کله دوه شرعي شاهدان دطلاق نسته او میړه انکار کوي نو دشرعي قاعدي مطابق دمیړه قول سره دقسمه معتبر دی، البته که دمیړه دطلاق په اقرار هم دوه شاهدان موجود وي او هغوی په طلاق باندي دمیړه داقرار شهادت ورکوي نو بیاهم طلاق ثابتیږي، لیکن کله چي هیڅ شهادت دطلاق یا پرطلاق دمیړه اقرار نه وي نو بیا قول دمیړه معتبر دی (۱) او دښځي په باره کي بیشکه دا حکم دی چي که دا په مغلظو یا بائنو طلاقونو باندي یقین لري نو چي ترڅو ددي وس رسیږي دهغه څخه دي جلا اوسي اوکه دا پردي قدرت نه لري نوبیا به ددي مواخذه نه وي گناه پرمیړه ده په درمختار کي دی: سمعت عن زوجها أنه طلقها ولا تقدر علی منعه من نفسها فلا اثم علیها، انتهی ملخصا. (۲)

زید ښځي ته طلاق ورکی دهلکو په څواني کي یي هغه جمله بیا بیا ویله نو څه حکم دی؟

سوال: (۳۱۲) زید دتذکري په ډول په خپله دیوڅو کسانو په مخکي بیان وکی چي ما خپلي ښځي ته طلاق ورکړی دی او زید یو دروغجن عبث ږغیدونکی سړی دی ددي وجهي حاضرینو دروغ وگڼله په طور دتصدیق یي بیا پوښتنه ورځیني وکړه چي په حقیقت کي تا طلاق ورکړی دی نو زید څو ځله وویل چي هو ما طلاق ورکړی دی اوخط مي هم دعمر په نوم لیږلی دی چي ما خپلي ښځي ته طلاق ورکړی دی خو دتحقیق څخه وروسته معلومه سوه چي زید هیڅ تحریر دعمر په نامه نه دی لیږلی اونه یي دخپلي ښځي په وړاندي یا دهغي دخپلوانو په وړاندي هغي ته طلاق ورکړی دی صرف په دي مجمع کي ده په پورته ذکر سوي طریقه طلاق ورکول بیان کړل او دزید ښځه دعمر په کور کي دځان دخرڅ او خوراك برابرولو دپاره په خدمت اخته وه دا کار دزید خوښ نه دی، دی غواړي چي ښځه یي دعمر په کور کي پاته نه سي او زید هم دا وایي چي ما هم دهمدي وجهي داسي بیان وکی چي زما دښځي غوږونو ته داخبره ورسیږي او دا دعمر په کور کي اوسیدل بند کړي زما دطلاق نیت بالکل نه وو نو په دي صورت کي طلاق

(۱) ونصابها لغیرها من الحقوق رجلان او رجل وامرأتان (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار کتاب الشهادة ج۴ ص۵۱. ط. س. ج۵ ص ۴۶۵). ظفیر

(۲) والمراة کالقاضي اذا سمعته او اخبرها عدد لایحل لها تمکینه والفتوی علی انه لیس لها قتله ولا تقتل نفسها بل تفدي نفسها بمال او تهرب الخ وفی البزازیة من الاوزجندي انها ترفع الامر للقاضي فان حلف ولا بینة لها فالاثم علیه (ردالمحتار باب الصریح ج۲ ص۵۹۴. ط. س. ج۳ ص۲۵۱). ظفیر

واقع سو اوکه نه؟ او اوس په کمه طريقه دابنځه دزيد په زوجيت کي راتلای سي چي ددي واقعي يوه نيمه مياشت وسوه؟

جواب: په دي صورت کي دزيد ښځه طلاقه سوه ځکه چي که په دروغو هم داسي وويل سي او نيت دطلاق هم نه وي بيا هم په دی لفظ سره طلاق واقع کيږي (۱) البته که يي داول ځل ځخه وروسته کله چي دخلګو په جواب کي بيا بيا طلاق بيانوی، که يي په هغو کي دنوي طلاق نيت نه ؤ يوازي ددغه مخکي طلاق خبر ورکول يي مقصود وو، نو يوطلاق به واقع وي زيات طلاقونه به نه وي واقع چي په هغو کي دحلالي ضرورت وي اوپه يوه طلاق کي ميړه بي له نوي نکاح خپلي ښځي ته رجوع کولای سي يعني چي داسي وايي چي ما خپله ښځه خپله کړه او کله چي تراوسه دطلاق يوه نيمه مياشت تيره سويده نو غالبا دری حيضه به نه وي راغلي نو اوس هم دده عدت باقي دی اورجوع کولای سي.

په پوښتل سوي صورت کی طلاق واقع سو اوکه نه؟ **سوال**: (۳۱۷) شريف الدين وايي چي حسن شاه ځرګنده کړه چي تقريبا سل ګزه دليري ځخه مي واوريده چي نبرجو په حالت دجنګ او دجدل کي دا اواز وکی چي خپله خور دي رابهر کړه هغي ته دری طلاقه دي فقط شريف الدين پلټنه وکړه چي نور شاهدان پيدا کی حبيب ملا دشريف الدين پرته دنورو کسانو په مخ کي دابيان کوي چي ماته هم خبر دی خو زما پرذمه څه دي چي زه اظهار وکړم اخر ګاونډيتوب دی شريف الدين تقريبا دری مياشتي وروسته دنبرجو دخصومت دمجلس دحاضرينو څخه ددريو طلاقو دلفظ پوښتنه وکړه او دشهادت پټولو وعيد يي ورته بيان کی هغوی وويل چي هيڅکله يي دطلاق لفظ نه دی اوريدلی حبيب ملا هم په دغه مجلس کي وو او چپ پاته سو وروسته ددريو څلورو ورځو څخه شريف الدين دحسن شاه او دذکر سوي حبيب ملا شاهدي واخيسته او دطلاق حکم يي ورکی مفتی حسام الدين دحبيب ملا شهادت دتاخير په سبب ردکی او حکم يي دطلاق دنه واقع کيدو وکی نو په دي صورت کي دشريعت دقانون مطابق دری طلاقه واقع دي اوکه نه؟ او معنی دتاخير دشهادت په عرف دفقهاوو کي څه ده؟ او عذر دتاخير دشهادت په شرع کي څنګه معتبر دی؟

---

(۱) ثلث جدهن جد وهزلهن جد النكاح والطلاق والرجعة. رواه الترمذي (مشكرة باب الخلع والطلاق ص۲۸۴). ظفير الدين

جواب: په درمختار كي دي: ومتى اخر شاهد الحسبة شهادة بلا عذر فسق فترد الخ (۱) وهكذا في ردالمحتار والاشباه والنظائر او عذر دادی چي قاضي عادل موجود نه وي اومکان دده نژدي نه وي وغيره په درمختار كي دي: لكن لوجوب الاداء شروط سبعة مبسوطة في البحر وغيره عدالة قاض وقرب مكانه وعلمه لقبوله وبكونه اسرع قبولا وطلب المدعي الخ، خو په شهادت دحسبه كي طلب دمدعي شرط نه دی نوکله چي دطلاق حسبه شاهد يوازي دګاونډيتوب په لحاظ دشهادت په ادا کونه کي ځنډ کړی دی نو دهغه فسق څرګند دی او شاهدي يي نامقبوله ده او دهغه په شهادت طلاق نه ثابتيږي. فقط

دطلاق لفظ يي ووايه خو تعداد يي ياد نه دی اوريدونکي وايي يو دوه ځله يي وويل، نو څه حکم دی؟ **سوال**: (۳۱۸) زيد دغصي په حالت کي خپله ښځه ووهله اوپه همدي حالت دغصي کي يي الفاظ دطلاق وويل اوس دزيد څخه پوښتنه وسوه چي تا څو ځله لفظ دطلاق ويلی دی ده وويل چي ماته سخته غصه وه او ماته ياد نه دي خو چي کم خلق موجود وه هغوی وايي چي موږ لفظ دطلاق تر دوه ځله زيات نه دی اوريدلی ښځه وايي چي زما هيڅ په يادنه دي خو لفظ دطلاق يو دوه ځله ما اوريدلی وو په دي اړه چي دشريعت کم حکم وي بيان يي کړئ؟

جواب: په درمختار کي دي: ولو شك اطلق واحدة او اكثر يبنى على الاقل الخ قال في ردالمحتار الا ان يستيقن بالاكثر او يكون اكبر ظنه وعن الامام الثاني اذا كان لا يدري اثلث ام اقل يتحرى وان استويا عمل باشد ذلك عليه. اشباه (۲) نو که دمجلس دحاضرينو غالب ګمان داوي چي تر يوه ځل يا دوو ځلو يي زيات لفظ دطلاق نه دی ويلی نو په دي باندي طلاق رجعي واقع سو او حکم يي دادی چي په عدت کي دننه رجوع بي له نکاح صحيح ده او دعدت څخه وروسته نوي نکاح بي له حلالي کولای سي خوکه غالب ګمان ددريو طلاقو وي يامساوي نو احوط دادي چي دری طلاقه وګڼل سي اوبي له حلالي به نکاح صحيح نه وي. کما مرعن الشامي من قوله عمل باشد ذلك عليه.

دعدت څخه وروسته رجعي بائن ګرځي: **سوال**: (۳۱۹) طلاق رجعي دعدت دتيريدو څخه وروسته بائن ګرځي او که نه؟

جواب: رجعي طلاق دعدت دتيريدو څخه وروسته بائن ګرځي. (۳)

---

(۱) ردالمحتار کتاب الشهادات ج۴ ص۵۱۴. ط. س. ج۵ ص۴۲۳. ظفير

(۲) ردالمحتار قبيل باب طلاق غير المدخول بها ج۲ ص۶۲۴. ط. س. ج۳ ص۲۸۳. ظفير

(۳) فاذا انقضت العدة ولم يراجعها بانت عنه (فقه السنة ج۸ ص۷۹). ظفير

یو دوه دری طلاقه مي درکړل، په دې ویلو سره څو طلاقه لوېږي؟ **سوال**: (۳۲۰) تاته مي یو طلاق درکی دوه طلاقه مي درکړل یایو طلاق دوه طلاقه مي درکړه، په دې ویلو سره به دوه طلاقه واقع وي اوکه نه جمع به سي او دری طلاقه به سی؟

جواب: په دې صورت کې جمع کیږي او دری طلاقه واقع کیږي. (۱)

طلاق په څو ډوله دی؟ **سوال**: (۳۲۱) طلاق پرڅوقسمه دی اودهریوه قسم حکم څنګه دی؟

جواب: دطلاق دوه قسمونه دي رجعي اوبائن بیا دبائن دوه قسمونه دي مغلظ او غیر مغلظ په رجعي کی په عدت کي دننه رجوع صحیح ده اوپه بائن غیر مغلظ کي دنوي نکاح ضرورت دی او په مغلظ یعني دریو طلاقو کي دحلالي ضرورت دی. (۲)

په لاندینی دم ویلو سره طلاق واقع سو اوکه نه؟ **سوال**: (۳۲۲) دزید او دده دښځي په مینځ کي دښځي دخپلوانو په شرارت څه خفګان وو نو ددي وجهي زید خپله ښځه کورته په راوستلو نه مجبوروله په دې دوران کي بکر زید ته لاندینی دم وښودی چي ته دا په یوه خاص کوټه کي دبیده کیدو په وخت کي ووایه او دخپلي ښځي دصورت خیال کوه چي اوه شپي متواتر یي ووایي نو ان شاء الله ستا ښځه به بي له اجازي دقریبانو راسي هغه دم دادی: (آلوکورو آلوکورو آلو یا رحمان جاکه جاکه کری ساته، بیری که میری شیطان شوء کی، دن سوئی جاجا کی، زوجه کانام لاګتا نهین، لاګی تو تیری بی هین، جی سی تین طلاق تین طلاق تین طلاق) په دې صورت کي دا وهم کیږي چي پرښځه طلاق واقع سو حال دادی چي ددي عبارت په ویلو ایقاع دطلاق مقصود نه وه؟

جواب: دا ښکاره ده چي دذکر سوي عبارت دمعني دمعلومیدو پرته هیڅ حکم قطعي نه سي کیدای لیکن کم غالب ګمان چي په پوښتل سوي صورت کي کیږي هغه دادی چي طلاق واقع نه دی ځکه چي میړه صرف دیوه ښودل سوي عبارت نقل کوي دعمل په غرض، نه دایقاع او دانشآء دطلاق نو توهم دي لیري کړل سي او چي کله دا عبارت میړه په غرض دطلاق نه دی ویلی نو په دې مطمئن سه چي طلاق نه دی واقع سوی او دفقهاوو دا فیصله دي تر نظر لاندي ونیسي چي په شك سره طلاق نه واقع کیږي. (۳)

(۱) والطلاق يقع بعدد قرن به (درمختار) اى متى قرن الطلاق بالعدد كان الوقوع بالعدد (ردالمحتار باب الصريح ج۲ ص۲۲۷. ط. س. ج۳ ص۲۸۷). ظفير

(۲) وينكح مبانته بما دون الثلاث فى العدة وبعدها بالاجماع الخ لا ينكح بها اى بالثلاث الخ حتى يطأها غيرها بنكاح (ردالمحتار باب الرجعة ج۲ ص۷۳۸، ط. س. ج۳ ص۴۰۹). ظفير

(۳) علم آه حلف ولم يدر بطلاق او غيره لغا كما لو شك اطلق ام لا (الدرالمختار على هامش ردالمحتار باب الصريح ج۲ ص۲۲۳. ط. س. ج ۳ ص۲۸۳). ظفير

په دي وعده يې نکاح وکړه چې که ستا په کور کې ونه اوسيدم نو نکاح به صحيح نه وي نو دمخالفت کولو په صورت کې څه حکم دی؟ **سوال:** (۳۲۳) دفاطمي سره نبي بخش په دي وعده او اقرار نکاح وکړه چي که زه ستا په کور کي ونه اوسيدم او ستا داجازي پرته يوې بلي خواته ولاړم يا واوسيدم نو زما نکاح به ستا سره صحيح نه وي دنکاح څخه وروسته يي يوه شپه دښځي په کور کي تيره کړه او بيا چي دکم ځای وو هلته ولاړی بيا دفاطمي په کور کي ونه اوسيدی او نه يي دي ته خرچه ورکړه په دي صورت کي ذکر سوي ښځه بله نکاح کولای سي او که نه؟

جواب: په ذکر سوي صورت کي په ذکر يويو الفاظو سره طلاق نه واقع کيږي او فاطمه په موجوده حالت کي دبل چا سره نکاح نه سي کولای بلکه چي داول ميړه څخه طلاق واخلي نو بيا دعدت دتيريدو څخه وروسته دبل سره نکاح کولای سي.

که ثابت سو په مرمی می ووله او همدا فيصله دطلاق هم ده، په دې ويلو سره څه حکم دی؟

سوال: (۳۲۴) زيد دخپلي خور نکاح دبکر سره په دي خيال وکړه چي بکر بي ښځي دی او بکر هم خپل ځان يواځي ښکاره کی خو دناوي دورکولو څخه مخکي زيد ته دامعلومه سوه چي بکر خپل واده پټ ساتلی دی او دده واده سوی دی او داولاد لرونکی دی په دي وجه زيد دناوي دورکولو څخه انکار وکی چي ما په شرط دجاره توب دبکر سره نکاح کړيده اوچي ددي دروغوالی ښکاره سو نو موږ اوس ناوي نه ورکوو او زيد دبکر څخه خلع وغوښته خو بکر خلع منظوره نه کړه بلکه دغه وخت يي هم خپله زړه نکاح پټه وساتله بيا په دي جنګ کي بکر وويل که زما نکاح او اولاد ثابت سو نوما په مرمی وولی او همدا فيصله دطلاق ده.

فيصله دلته په داډول تنازعاتو کي دطلاق پرځای استعماليږي اوس زيد وايي چي هنده طلاقه سوه او زيد په صحيح شهادت دا الفاظ ثابت کړل او بکر ددي الفاظو دويلو څخه قطعي انکار کوی اوس پوښتنه داده چي په ذکر سوي صورت کي طلاق واقع سو اوکه نه؟ په ظاهر کي خو دطلاق دالفاظو اضافت هيڅا ته هم نسته خو په اعتبار دمحل دجګړي اضافت دطلاق هندي ته معلوميږي؟

جواب: په دي صورت کي طلاق واقع سو: کما حققه الشامي من انه لايلزم کون الاضافة صريحة في کلامه وقال فهذا يدل علی وقوعه وان لم يضفه الی المرأة صريحا وقال لان العادة ان من له امرأة انما يحلف بطلاقها لابطلاق غيرها الخ [1] او چي تذکره او واقعه

---

[1] ردالمحتار باب الصريح ج۲ ص۵۹۰ – ۵۹۱. ط. س. ج۳ ص۲۴۸. ظفير

دزيد دخور په اړوند وه نو طلاق به هم پرهغې واقع وي.

ويې ليکل چې په طلاق مسنونه سره مې ازاده کړه او داهم چې کم ځاى يې خوښه وي واده دي وکړي اوس ده ته درجوع حق سته اوکه نه؟ **سوال**: (**٣٢٥**) يو سړي چي په ديني درسي كتابونو پوه اوديندارہ دی دکورنۍ غړي پوهوي چي شرعًا بدعي طلاق ممنوع دی زه يو فارغ خطي موافق دسنتو ليکم تاسو په دي عمل وکی وروسته ددي ښځه په عزم بالجزم سره اګر چي يو مسنونه احسن بي له عوضه پوره حق دمهر خپلي مدخولي منکوحي ته په ورکولو سره طلاق ورکی خو په ظاهره يې هم ددي يوه طلاق پربناء باندي په لانديني مضمون سره په تمسك كولو سره يي يو كاغذ وليكی چي په دي كي ديوه طلاق مسنونه تصريح ونه سوه او ويې ليکل چي ما ديته دمسنونه طلاق په ورکولو سره دا دزوجيت دحق ښځه ازاده کړه دعدت دتيريدو ښځه وروسته چي دچا سره هم دا وغواړي نکاح دي وکړي زما به ددي سره هيڅ قسم مزاحمت نه وي.

خلاصه دپوښتني داده چي آيا داسړی خپلی مطلقي واحدي ته په عدت كي رجوع كولاى سي اوكه نه؟ دوهم داچي ايا طلاق مسنونه واحده په وخت دليکلو دکاغذ يا صرف په لساني تقرير په شان دبدعي واقع كيږي اوكه طلاق مسنونه واحده دبدعياتو په شان نه دی تر طهر بلا جماع پوري مقيد دی، دريم آيا دكاغذ باقي الفاظ دفارغ خطي يعني دخپل حق دزوجيت ښځه مي ازاده كړي اونور، طلاقِ مسنونه واحده شرعيه بلا عزم بائن جوړولاى سي اوكه نه؟

جواب: دمطلق نيت كه دغه وخت دطلاق وركولو وو نو في الحال به واقع وي كما في الدرالمختار وان نوى ان تقع الثلاث الساعة الخ صحت نيته الخ ([1]) او دا طلاق به دروستني سره بائن وي په وجه دزياتي دوروستني دوهم داچي دميړه لفظ چي (دزوجيت دخپل حق ښځه مي ازاده كړي) ترجمه ده د (انت حرة) چي يو دهغو كناياتو ښځه ده چي په هغو سره په وخت دذكر دطلاق كي طلاق واقع كيږي: كذا في الدرالمختار ([2]) نو په دي لفظ سره به يو بائن طلاق في الحال واقع وي اګركه په وجه دنيستي دنيت په اول لفظ صريح سره طلاق واقع نه سو.

([1]) الدرالمختار على هامش ردالمحتار باب الطلاق ج۲ ص۵۷۸. ددي ښځه مخكي عبارت دادي: فالموطوئة وهی ممن تحيض انت طالق ثلاثا للسنة وقع عند كل طهر طلقه الخ وان نوى ان يقع الثلاث الساعة (ايضا ط. س. ج۳ ص۲۳۵). ظفير

([2]) ونحو اعتدي واستبرئي رحمك انت واحدة انت حرة الخ لا يحتمل السب والرد (وهذا قسم ثالث) وفی مذاكرة الطلاق يتوقف الاول فقط ويقع بالاخرين وان لم ينو (درمختار) قوله الاول أی ما يصلح للرد والجواب (ردالمحتار باب الكنايات ج۲ ص۶۴۰. ط. س. ج۳ ص۳۰۱). ظفير

ښځه دطلاق دعوی کوي او میړه انکار کوي څه باید وکړل سي؟ سوال: (۳۲۲) ګلو خپله ښځه زینب تر ځلورو کلو پوري دځان څخه جلا ساتلي وه او ځلور کاله دي بالکل نه دي ورسره یوځای سوی زینب وایي چي ګلو ماته طلاق راکړی دی او مصنوعي دځلورو سړیانو نومونه اخلي چي ددوی په مخکي یي راکړی دی ماته یي مخامخ نه دي راکړی حال دادی چي دځلورو کلو راهیسي ګلو ددي سره یوځای سوی هم نه دی نو آیا په دي صورت کي طلاق واقع کیږي اوکه نه؟

جواب: طلاق واقع کیږي دطلاق دواقع کیدو لپاره دښځي مخامخ موجودیدل ضروري او شرط نه دي که دوه یا زیات عادلان شاهدان شاهدي ورکړي چي زموږ په مخکي یي طلاق ورکړی دی نو طلاق واقع کیږي. (۱) فقط

یوچا ښځی ته وویل طلاق مي درکی، بائن طلاق مي درکی وروسته انکار کوي نوڅه حکم دی؟ سوال: (۳۲۷) دری عاقل بالغ سړیان وایي چي زید خپلي ښځي موطوئي ته وویل تاته مي طلاق درکی تاته مي بائن طلاق درکی صرف دومره الفاظ مو واوریدل او زید وایي چي نه مي طلاق او نه مي بائن ویلي دي نو په دي صورت کي طلاق واقع سو اوکه نه؟ که واقع سوی وي نوکم طلاق دی؟

جواب: که شاهدان عادلان او ثقه وي بیا دمیړه انکار معتبر نه دی نوبیا دوه بائن طلاقونه دده پرښځه واقع سوه: ویقع بقوله انت طالق بائن الخ واحدة بائنة فی الکل لانه وصف الطلاق بما یحتمله الخ (درمختار) قوله لانه وصف الخ وهو البینونة الخ شامي. (۲)

بغیر دخطاب څخه یی دری ځله طلاق ورکی نو کم طلاق واقع سو؟ سوال: (۳۲۸) یو سړی غصه سو او لفظ دطلاق یي تکرار یعني تر دریو ځلو زیات ووایه بي له خطابه نو په دي صورت کي دده ښځه طلاقه سوه اوکه نه؟ که طلاق واقع سوی وي نو کم یو دی؟ آیا بي له حلالي داساتلای سي اوکه نه؟

جواب: قرینه داده چي ده خپلي ښځي ته طلاق ورکړی دی، ځکه چي محل دطلاق هم دا دی او فقهاوو تصریح کړیده چي عادةً دچا ښځه وي نو دی پرهغي دطلاق قسم کوي: وفی الشامي لان العادة ان من له إمرأة انما یحلف بطلاقها لا بطلاق غیرها الخ (۳) ج۲ ص۴۳۵ شامي، او په دي صورت کي چي دری طلاقه واقع سوي دي نو بي له حلالي دا

---

(۱) وماسوی ذلك من الحقوق تقبل شهادة رجلین اورجل وامراتین کان الحق مالا اوغیر مال کنکاح وطلاق (هدایه کتاب الشهادات ج۳ ص۱۵۴). ظفیر

(۲) وګورئ: ردالمحتار باب الصریح ج۲ ص۲۱۷ – ۲۱۸. ط. س. ج۳ ص۲۷۲. ظفیر

(۳) ردالمحتار باب الصریح ج۲ ص۵۹۱. ط. س. ج۳ ص۲۴۸. ظفیر

ښځه داول میړه په نکاح کي نه سي راتلای. (۱)

خسر دزوم څخه خپلي لورته طلاق واخیستی، خو انجلی داول میړه سره اوسیدل غواړي څه حکم دی؟ **سوال:** (۳۲۹) خسر دجنگ په وجه دزوم څخه خپلي لورته طلاق واخیستی اوپه وخت دطلاق کي ښځه موجوده نه وه ښځه دوه کاله دپلار په کور کي اوسیده ددي پلار څو ځایه ددي دنکاح تجویز وکی خو ښځي منظور نه کی او داول میړه کورته تلل غواړي نو په دي باره کي چي دشریعت څه حکم وي هغه ولیکئ؟

جواب: په دي صورت کي طلاق واقع سو که یي یو یا دوه طلاقه ورباندي اچولي وي نو دابنځه داول میړه سره دوهمه نکاح کولای سي (۲) اوکه دری طلاقه وي نو دحلالي څخه وروسته دا داول میړه سره نکاح کولای سی (۳) او مخکي نه سي کولای.

طلاق مي درکړی دی په دي ویلو سره طلاق واقع سو؟ **سوال:** (۳۳۰) چي څوك خپلي ښځي ته داسي طلاق ورکي چيووايي چي ما طلاق درکړی دی خو دمهر دوجهي یي ظاهر نه کړي بي له شاهد څخه یي په خپل زړه کي وویل نو دا طلاق واقع سو اوکه نه؟ او که بیا دابنځه خپله نکاح دبل سره وکړي نو صحیح ده اوکه نه؟ او که ښکاره طلاق ورکړي نو مهر به ورکوي او که څنگه؟ اونه شاهد سته دطلاق خو ښځه بدکاره ده؟

جواب: چي کله میړه دا وویل چي ما طلاق ورکړی دی نو طلاق واقع سو (۴) که شاهد وي اوکه نه او ښځه مهر وصولولی سي خوکه میړه دطلاقو څخه انکار وکی نو بي ددوو شاهدانو څخه به طلاق ثابت نه وي او چي کله میړه دطلاقو اقرار کوي نو طلاق ثابت دی او دعدت څخه وروسته دښځي دویم نکاح کول صحیح دی. (۵)

صرف دیوه سړي په ویلو سره طلاق نه ثابتیږي؟ **سوال:** (۳۳۱) دزید دښځي هندي سره بکر ناجائز تعلق وساتل او هنده یي کورته بوتله زید په بکر باندي په عدالت کي دعوه وکړه

---

(۱) وان کان الطلاق ثلاثا فی الحرة الخ تحل له حتی تنکح زوجا غیره نکاحا صحیحا ویدخل بها ثم یطلقها او یموت عنها (هدایه باب الرجعة ج۲ ص۳۷۸). ظفیر

(۲) اذا طلق الرجل امرأته تطلیقة رجعیة او تطلیقتین فله ان یراجعها فی عدتها الخ (هدایه باب الرجعة ج۴ ص۳۷۳) وینکح مبانة بما دون الثلاث فی العدة وبعدها بالاجماع (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب الرجعة ج۲ ص۷۳۸. ط. س. ج۳ ص۴۰۹). ظفیر

(۳) وان کان الطلاق ثلاثا فی الحرة الخ لم تحل له حتی تنکح زوجا غیره نکاحا صحیحا ویدخل بها ثم یطلقها او یموت عنها (هدایه باب الرجعة فیما تحل به المطلقة ج۲ ص۳۷۸). ظفیر

(۴) صریحه ما لم یستعمل الا فیه الخ کطلقتك (درمختار) فما لایستعمل فیها الا فی الطلاق فهو صریح یقع بلانیة (ردالمحتار باب الصریح ج۲ ص۵۹۵. ط. س. ج۳ ص۲۴۷). ظفیر

(۵) ونصابها لغیرها من الحقوق سواء کان الحق مالا او غیره کنکاح وطلاق الخ رجلان الخ او رجل وامرأتان (ایضا کتاب الشهادات ج۴ ص۵۱۵. ط. س. ج۵ ص۴۶۵). ظفیر

هنده اوبکر يي ونيول دنيولو په وخت کي هنده دبکر دکوره راوايستل سوه خو بکر دمقدمي څخه دخپل ځان دخلاصون او دهندي په خپل کور کي دساتلو په غرض دزيد هندي ته په يوه وخت کي دری ځله طلاق ورکول بيان کړل او دزيد دنکاح څخه يي دهغي وتل بيان کړل زيد دطلاق څخه په قسم خوړلو سره انکار کوي آيا په داسي صورت کي به طلاق ثابت وي او که نه؟

جواب: دطلاق ثبوت شرعًا په دوو عادلو او معتبرو شاهدانو سره کيږي که دوه متقي پرهيزګار لمونځ ګذار شاهدان دطلاق نه وي نو دزيد دانکار په صورت کي به طلاق ثابت نه وي. (۱)

ويي ويل چي کله مي دکور څخه وايستله نو بيا طلاق دی طلاق مي ورکړی دی په دي صورت کی څه حکم دی؟ **سوال:** (۳۳۲) دښځي او دميړه په مينځ کي جنګ وسو دميړه اکا وويل چي که ته ډوډی او جامه نه ورکوي نو بيا طلاق ورکړه ده وويل چي کله مي دکور څخه وايستله نو بيا طلاق دی، طلاق مي ورکړيدی نو په دي صورت کي طلاق وسو اوکه نه؟

جواب: چي کله ميړه دالفظ ووايه: نو بيا طلاق دی طلاق مي ورکړی دی، نو په دي صورت کي دده پرښځه طلاق واقع سو (۲) او دعدته څخه وروسته ددي دوهمه نکاح کول صحيح دي.

ښځي ته يي وويل تاته مي طلاق درکی، ته دمور په څېر يي دايي دری ځله وويل نو کم طلاق واقع سو؟ **سوال:** (۳۳۳) که يو سړی ښځي ته ووايي چي ما تاته طلاق درکی اوته زما دمور اوخور په شان يي که ته زما سره کوروالی کوي نو ګويا دخپل پلار سره کوروالی کوي دايي دری ځله وويل نو په دي سره به دده ښځه په مغلظه طلاق سره طلاقه وي اوکه نه؟

جواب: پردي ښځي به يو طلاق په صريح لفظ واقع وي او دمور اوخور په شان ويلوسره که دده نيت دطلاق وي نو يو بائن طلاق ورباندي واقع کيږي نو ټول به دوه بائن طلاقونه سي اوپه دريم لفظ سره هيڅ طلاق نسته نو ددي وجهي داښځه مطلقه ثلاثه نه سوه كما في الدرالمختار وان نوى بانت على مثل امى الخ براً او ظهاراً او طلاقا صحت نيته

(۱) ونصابها لغيرها من الحقوق سواء كان الحق مالا او غيره كنكاح وطلاق الخ رجلان الخ او رجل وامرأتان (ايضا كتاب الشهادات ج۴ ص۵۱۵. ط. س. ج۵ ص۴۶۵). ظفير

(۲) وهو كانت طالق مطلقة وطلقتك وتقع واحدة رجعية وان نوى الاكثر او الإبانة اولم ينو شيئا (عالمگيري الباب الثانى في ايقاع الطلاق ج۱ ص۳۷۸. ط. س. ج۱ ص۳۵۴). ظفير

ووقع ما نواه لانه كناية والا ينو شيئًا اوحذف الكاف لغا الخ (۱) او علامه شامي په دي ځاى كي دا رانقل كړي دي: وينبغي ان لايصدق قضاءًا في ارادة البر اذا كان في حال المشاجرة وذكر الطلاق الخ (۲) دشامي ددي اخري عبارت څخه داهم ښكاره سوه چي دطلاق دمذاكري په وخت: انت عليّ مثل امي، ويلو سره قضاءًا بي له نيته هم دبائن طلاق حكم كيږي او له دي امله چي دفقهاوو قاعده ده: البائن لا يلحق البائن (۳) ددي بائن څخه وروسته بل بائن نه واقع كيږي نو ټول دوه طلاقه سوه دواړه بائن.

ميړه طلاق ورکړي وو خو اوس انكار كوي نو طلاق به واقع وي او كه نه؟ سوال: (۳۳۴) زيد خپلي ښځي هندي ته دهغي دپلار عمر په مخكي طلاق مغلظ بائن وركى، ددې څخه يو كال وروسته زيد په يوه طريقه سره هنده ولمسوله اوس وايي چي ماته طلاق نه دى راكړل سوى او زيد هم دطلاق دوركولو څخه انكار كوي نو آيا عمر دقاضي په وړاندي دعوه كولاى سي، او دطلاق دبرقرار ساتلو فيصله اخيستلاى سي اوكه نه؟ او خپله لور هنده دزيد دقبضي څخه ايستلاى سي اوكه نه؟

جواب: چي كله زيد دطلاق څخه انكار كوي نو ددوو عادلو شاهدانو دشاهدي پرته طلاق نه ثابتيږي او قاضي به دطلاق حكم نه كوي اوچي كله حكم دطلاق بي له شاهدي ددوو شاهدانو نه سي كيداى نو هنده دزيد دنكاح او قبضي څخه نه سي وتلاى.

داضافته پرته دچا په زور راوړلو سره دطلاق دلفظ په ويلو طلاق واقع كيږي كه نه؟ سوال:
(۳۳۵) يوچا دخپل پلار سره جنګ وكى پلار زوي ته وويل خپلي ښځي ته طلاق وركه زوي څو ځله انكار وكى چي زه طلاق نه وركوم پلار پرزوي ډير زور واچوى او ورته ويي ويل چي لفظ دطلاق induced ووايه زوى لفظ دطلاق بي له اضافت څخه ووايه نو په دي صورت كي دده پرښځه طلاق واقع سو اوكه نه؟

جواب: په شامي كي يي ليكلي دي چي: ولا يلزم كون الاضافة صريحة في كلامه (۴) ددي حاصل دادي چي دطلاق دواقع كيدو لپاره صراحةً نسبت كول ښځي ته ضروري نه دي بلكه چي كله قرائن موجود وي چي دي سړي خپلي ښځي ته دا لفظ ويلى دى نو دده پرښځه طلاق واقع كيږي خو دپوښتل سوي صورت څخه دا ظاهريږي چي دسائل خپلي ښځي ته طلاق وركول منظور نه وه او پلار چي كله دا وويل چي لفظ دطلاق ووايه نوده

(۱) الدرالمختار على هامش ردالمحتار باب الظهار ج۲ ص۷۹۴، ط. س. ج۳ ص۴۷۰. ظفير
(۲) ايضا. ط. س. ج۳ ص۴۷۰. ظفير
(۳) الدرالمختار على هامش ردالمحتار باب الكنايات ج۲ ص۶۴۲. ط. س. ج۳ ص۳۰۸ – ۳۰۷). ظفير
(۴) ردالمحتار كتاب الطلاق باب الصريح ج۲ ص۵۹۰. ط. س. ج۳ ص۲۴۸. ظفير

لفظ دطلاق بي له اضافته ووايه او په زړه کي دده خپلي ښځي ته دطلاق ورکولو نيت نه وو نوپه دي ډول به دده پرښځه طلاق واقع نه وي لکه څنګه چي په شامي کي دي: ويؤيده ما في البحر لو قال امرأة طالق او قال طلقت امرأة ثلثا وقال لم اعن امرأتي يصدق آهـ ويفهم منه انه لو لم يقل ذلك تطلق امرأته لان العادة ان من له امرأة انما يحلف بطلاقها لا بطلاق غيرها الخ. (۱)

چي ميړه دطلاق اقرار وکړي خو دخلکو په زور وشور خاموشي اختيار کړي نوڅه حکم دی؟

سوال: (۳۳۶) دزيد په نکاح کي دوې ښځي دي يوه دشرع شريفې موافقه ساتي او بله ډيره ذليله او خواره دمور او دپلار په کور کي اوسيږي، نه په پوره ډول سره نفقه ورکوي اونه ورسره ښه سلوك کوي زيد په خپله هم اګر چه په طلاق ورکولو اقرار کوي خو دڅو کسانو په لمسون خاموش دی نو په دي مسئله کي څه حکم دی؟

جواب: قال الله تعالى فامساكٌ بمعروف او تسريحٌ باحسان (۲) او همدارنګه فرمايي: فان خفتم ان لاتعدلوا فواحدة (۳)، الاية، نو چي کله زيد عدل او مساوات ددواړو ښځو په مينځ کي نه ساتی نو ده لره په کار دی چي دکمي يوې سره يي مينه نه سته نو هغې ته دي طلاق ورکړي چي کله زيد په خپله دطلاق اقرار کوي نو دده ښځه طلاقه سوه او دعدت څخه وروسته يي دوهمه نکاح صحيح ده ځکه چي اقرار دطلاق هم طلاق دی، کذا في کتب الفقه.

په غصه کي يي طلاق ورکی خو دا ورته ياد نه دي چي دوه يي ورکړل اوکه دري نوڅه حکم دي؟ **سوال**: (۳۳۷) يوه سړي په غصه کي خپلي ښځي ته طلاق ورکی خوده ته دا ياد نه دي چي دوه ځله يي ورکی اوکه دری ځله نو اوس دی دا ښځه ساتل غواړي نو ساتلای يي سي او که نه؟

جواب: په دي صورت کي طلاق واقع سو خو که په دوه يا دری کي شك وي نو دوه به ګڼل کيږي اوپه دوو صريحو طلاقو کي په عدت کي دننه رجوع بي له نکاح تازه کولو صحيح ده اودحلالي ضرورت نسته (۴) په درمختار کي دي: ولوشك اطلق واحدة او اكثر بني على الاقل الخ (۵).

---

(۱) ردالمحتار باب الصريح ج۲ ص۵۹۱. ط. س. ج۳ ص۲۴۸. ظفير

(۲) سورة البقرة : رکوع ۲۹. ظفير (۳) سورة النساء رکوع ۱. ظفير

(۴) اذا طلق الرجل امرأته تطليقة رجعية او تطليقتين فله ان يراجعها رضيت او لم ترض (هدايه باب الرجعة ج۲ ص۳۷۴). ظفير

(۵) الدرالمختار على هامش ردالمحتار باب الصريح ج۲ ص۶۲۳ - ۶۲۴. ط. س. ج۳ ص۲۸۳. ظفير

پرېښودل صريح دي اوکه کنايي؟ سوال: (۳۳۸) لفظ دچھوړنا دهند په لغت کي په پښتو کي دپرېښودلو په معنی سره دی دا صريح دی او که کنايه؟

جواب: دچھوړنا او چھوړي رکھنا (پرېښودل) الفاظ لکه څنګه چي په اردو کي دطلاق لپاره استعماليږي همدارنګه دښځي دخبر نه اخيستو، حقوق نه ادا کولو او معلق ساتلو لپاره هم استعماليږي نو کنايي کيدل ددي لفظ په اردو ترجمه کي هم باقي دي اوپه قرائنو او په دلالة الحال سره په دي باندي طلاق واقع کيږي کما فی بعض الکنايات. ([1])

دځلورو ښځو لرونکي دشپي يوه وليده نو ورته وي ويل پرتا طلاق نوڅه حکم دي؟ سوال: (۳۳۹) ديوه سړي څلور ښځي دي ده دشپي بغير دتعيين څخه ديوي څخه اوبه وغوښتلي په دوي کي يوي اوبه راوړي خو چي ددي څخه په اوبو راوړلو کي ناراستي سوي وه نو ددي وجهي ميړه خفه سو او ويي ويل چي تاته طلاق او سبا ته يوه هم اقرار نه کوي چي ما اوبه راوړي دي اونه يي ميړه پيژني نو په دي صورت کي کمه يوه طلاقه سوه؟

جواب: په درمختار کي دي: ولو قال امرأتي طالق وله امرأتان او ثلاث تطلق واحدة منهن وله خيار التعين ([2]) ددي روايت حاصل دادي چي که ميړه دا لفظ ووايي چي: إمرأتي طالق، او دده دوه يا دری ښځي وي نو دده پر يوه ښځه طلاق واقع سو او ميړه ته خيار دتعيين سته او دوهم روايت ددرمختار دادی چي: علم انه حلف ولم يدر طلاق او غيره لغا کما لو شك اطلق ام لا ([3]) ددي روايت حاصل دادي چي دشك په صورت کي طلاق نه واقع کيږي نو په مسئوله صورت کي يوه ښځه هم داوبو ورکولو اقرار نه کوي او ميړه ته هم معلومات نسته دی چي دا کمه يوه وه اوښځه مي وه که پردی وه، په دي صورت کي په وقوع دطلاق کي شك دی اوپه شك سره طلاق نه واقع کيږي نو دمسئوله صورت سره دوهم روايت زيات مناسب دی او اول روايت ددي صورت سره مناسب نه دی ځکه چي په دي روايت کي دده ديوي ښځي مصرحه طلاق کيدل يقيني دی خو صرف دتعين اختيار دی اوپه مسئوله صورت کي دا معلومه نه ده چي چاته يي خطاب کړی دی په دي لفظ چي ته طلاقه يي ځکه چي نه ميړه ديوي ښځي اقرار کوي چي فلانی ښځه وه اونه يوه

([1]) سرحتك وفرقتك لا يحتمل الرد والسب الخ وفی مذاکرة الطلاق يتوقف الاول فقط ويقع بالاخيرين وان لم ينو لان مع الدلالة لا يصدق قضاء فی نفی النية (درمختار) قوله سرحتك من السراحة وهو الارسال (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب الکنايات ج۲ ص۶۳۹. ط. س. ج۳ ص۳۰۰ – ۳۰۱) واذا قال هشتم ترا ولم يقل از زني فان کان فی حالة غضب او مذاکرة الطلاق فواحدة يملك الرجعة وان نوی بائنا او ثلاثا فهو کما نوی (عالمگيري مصري ج۱ ص۴۰۵). ظفير

([2]) الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب الطلاق غير المدخول ج۲ ص۶۲۹. ط. س. ج۳ ص۲۹۵. ظفير

([3]) الدرالمختار علی هامش ردالمحتار کتاب الطلاق باب الصريح ج۲ ص۶۲۳. ط. س. ج۳ ص۲۸۳). ظفير

ښځه داوبو دراوړلو اقرار کوي نو دا صورت په شك کي داخل دی او په دي کي دطلاق دعدم وقوع حکم دی.

طلاق یی ورکی خو دښځي لور ته یی نسبت ونکی نوڅه حکم دی؟ سوال: (۳۴۰) یوه سړي خپلي ښځي ته دری طلاقه وویل خو ښځي ته یي اضافت ونه کی نوڅه حکم دی؟

جواب: په پوښتل سوي صورت کي دده ښځه طلاقه سوه ځکه چي: فانه لا یشترط ان یکون الاضافة صریحة کما حققه الشامي. (۱)

پرطلاقنامه باندي تر څو چي میړه انکار نه وي کړی ښځه طلاقیږي: سوال: (۳۴۱) یوه طلاقنامه پررسمي کاغذ باندي یوه سړي ولیدله او وایي وریدله او دمطلقي ښځي نکاح یي دیوه بل چاسره وکړه وروسته څو کسانو شور جوړ کی چي طلاق نامه جعلي وه په دي ولي نکاح وسوه ددي خبري په اوریدو نکاح تړونکي دالله دبیري توبه وکړه او دخپلي نکاح تجدید یي وکی، نوپه دي صورت کي ده لره څه حکم دی؟ او دښځي نکاح صحیح ده او که نه؟

جواب: صرف دکسانو دشور په وجه دمیړه ددي طلاقنامي دغلط ګڼلو او ددوهمي نکاح دناجائز ګڼلو هیڅ وجه نسته خو که میړه دطلاق څخه انکار وکړي او دوه معتبر شاهدان دطلاق نه وي نو بیا به طلاق ثابت نه وي، او دوهمه نکاح به هم ثابته او صحیح نه وي دمیړه دانکار پرته سره ددي چي معتبر شهادت سته دوهمي نکاح ته ناجائز ویل صحیح نه دي اوچي کله طلاق په شاهدانو سره ثابت وي او میړه اقرار دطلاق کوي نو دوهمه نکاح چي دعدت څخه وروسته سویده صحیح ده (۲) دنکاح تړونکي تجدید دنکاح ته ضرورت نه وو او دعاقدینو نکاح ناجائز ګرځول صحیح نه دي او دنکاح تړونکي دتجدید دنکاح ضرورت خو په هغه وخت کي هم نسته چي ده ته یي دوکه ورکړي وي او نکاح یې په تړلي وي ځکه چي دده څه ګناه ده عندالله دی ګنګار نه دی.

ښځه دطلاق دعوی او شاهد وړاندی کوی او میړه منکر دی نوڅه حکم دی؟ سوال: (۳۴۲) نوریه وایی چي ماته زما میړه محمد عمر طلاق راکړی دی او محمد عمر ددي څخه قطعي انکار کوي، په خپل ثبوت کي نوریه، سراج احمد او برکات احمد وړاندي کوي دوی دواړه په خپلو بیانونو کي دطلاق متعلق دنوریې دبیان تائید نه کوي او دوه سړي عبد الظاهر او عزیز الله چي دهغوی په اړوند نوریي بیان وکی چي دي دواړو ته زما میړه

---

(۱) ولا یلزم کون الاضافة صریحة فی کلامه (ردالمحتار باب الصریح ج۲ ص۵۹۰. ط. س. ج۳ ص۲۴۸). ظفیر

(۲) ونصابها ای الشهادة لغیرها من الحقوق الخ کنکاح وطلاق رجلان او رجل وامرأتان (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار کتاب الشهادة ج۴ ص۵۱۵. ط. س. ج۵ ص۴۶۵). ظفیر

وروسته ترطلاقه تذکره کړي وه چي ما خپلي ښځي ته طلاق ورکړی دی وروستني دواړه ذکر سوي سړي دنوریي دبیان تائید کوي، په مذکوره صورت کي چي کم حکم په باره دطلاق کیدو یا نه کیدو کي موافق دشریعت وي هغه بیان کړئ؟

جواب: که عبد الظاهر او عزیز الله دلمانځه او روژي پابند او معتبر سړي وي نو ددوی په دي بیان سره چي محمد عمر زموږ په مخکي دطلاق ورکولو اقرار کړی دی طلاق ثابتیږي او دمحمد عمر انکار په دي حالت کي معتبر نه دی. ([1])

دوه طلاقه یی ورکړل ددي څخه وروسته یی ددي بیان وکی نوڅه حکم دی؟ سوال: (۳۴۳) یوه سړي خپلي ښځي ته دهغي په مخ کي طلاق ورکی او په همدغه وخت کي دباندي را ووتل او دیوه سړي په وړاندي یي بیان وکی چي نن زما څخه ډیره سخته غلطي وسوه ما په غصه کي خپلي ښځي ته دوه طلاقه ورکړل او بیا یې دخپل پلار په مخ کي ددي ذکر وکی پلار یي دمشهورولو څخه منع کړه په همدي بناء میړه بالکل انکاري سو اوس دی خپله ښځه ساتل غواړي خو ښځه اوسیدل نه غواړي او دوې ښځي هم شاهدي نه ورکوي یو سړی اویوه ښځه شاهد دي نو په دي صورت کي طلاق واقع سو اوکه نه؟ او دمیړه طلاق معتبر دی اوکه نه؟

جواب: دیوه سړي او دیوي ښځي په شهادت سره شرعًا طلاق نه ثابتیږي بلکه ددوو عادلو سړو او یا دیوه عادل سړي او ددوو عادلو ښځو په شاهدي سره ثابتیږي نو چي کله میړه دطلاق څخه منکر دی او شرعي شهادت موجود نه دی نو طلاق به ثابت نه وي بیا که په حقیقت کي سړي طلاق ورکړی وي او ښځه په وجه دعدم ثبوت دطلاق دده سره په اوسیدو مجبوره وي او مجامعت وسي نوګناه ددي دمیړه په غاړه سوه او ښځه ګنهګاره نه ده او چي ښځي ته یقین دطلاق وي نو دخپل وس مطابق دي دده څخه ځان وساتي او دمجبوري په وخت کي ګناه پر ښځه نسته بلکه پرسړي ده. ([2])

په مسئوله صورت کی څه حکم دی؟ سوال: (۳۴۴) دیوه سړي دواده شل کاله کیږي دومره بداخلاقه اوبد عمله دی چي دری ځله بندي خاني ته تللی دی هغه دخپلي ښځي دنوکري دنابالغي لور سره ناجائز تعلق پیدا کول وغوښتل چي دهغی عمر به په مشکله لس کاله وي دده ښځه مانع سوه نوده پرښځه تور ولګوی چي ستا دفلاني سړي سره ناجائز تعلق

([1]) ونصابها لغيرها من الحقوق الخ كنكاح وطلاق رجلان او رجل وامرأتان (الدرالمختار على هامش ردالمحتار كتاب الشهادة ج۴ ص۵۱۵. ط. س. ج۵ ص۴۶۵). ظفير

([2]) والمرأة كالقاضي اذا سمعته او اخبرها عدل لايحل لها تمكينه الخ وفي البزازية عن الاوزجندي انها ترفع الامر للقاضي فاذا حلف ولا بينة لها فالاثم عليه (ردالمحتار باب الصريح ج۲ ص۵۴۹. ط. س. ج۳ ص۲۵۱). ظ

دی او بیایي ووهله او وټکوله ښځي قسم وکی چي داهسي تور دی او ددي هیڅ اصل نسته اخر دي میړ یوه ورځ موقع پیدا کړه او ددي انجلی سره یي بالجبر زنا وکړه چي دهغی دوه عاقل بالغ شاهدان او دډاکټر سرټفیکیټ هم وړاندي کیږي چي کله ددي اطلاع دمیړه خورته وسوه نو دي سمدستي انجلۍ خپل کورته بوتله خو ده بیا په یو طریقه انجلۍ راوستله اوخپله ښځه یي په یوه کورکي بنده کړه او ددي انجلۍ سره یي ناجائز تعلق ساتی ښځه یي مجبوره سوه او دمیړه قریبانو ته یي منت او زاري وکړي چي ما ددي عذاب څخه خلاصه کړی نو دمیړه خور بیا ولاړه او داښځه او دغه انجلۍ یي دځان سره راوستل او ددي انجلۍ علاج کوي نو په دي دی غصه سو چي دی به خپله ښځه طلاقه کړي ځکه چي دابي اجازته دبل کورته تللي ده هم په دغه شپه دیو څو ملګرو سره دخور کور ته راغی دښځي څخه یي پوښتنه وکړه چي ته تلل غواړي اوکه نه؟ ښځه دتللو څخه انکار کوي نو ده دا وویل او ولاړی چي که ته نن شپه زموږ کورته رانغلي نو ته طلاقه یي په دي شپه ښځه کورته ورنغله بلکه تراوسه دده دخور په کور کي ده ددي څخه دری ورځي وروسته دڅو ملګرو سره بیا راغی اوپه ډیره نرمي یي غوښتل چي ښځه بوزي خو چي کله هغه په هیڅ ډول راضي نه سوه نو دشپږو اوو کسانو په مخکي یې خپل زوی روان کی اوویي ویل چي ځه ماتاته طلاق درکی بلکه ماپه ذریعه درجسټر تاته رالیږلی هم دی چي غالبا تاته به صبا راورسیږي نو په دوهمه ورځ یوه طلاق نامه په انګریزي ژبه لیکل سوي دده دښځي په نوم ترلاسه سوه چي ترجمه یي داده: (فلانۍ ته اطلاع ورکول کیږي چي هغه ما په دي بنا طلاقه کړه چي کم ځای هغه ما ساتلي وه دهغه ځای څخه بي اجازته دبل چاپه لمسون ولاړه چي ددي څخه صفا ظاهره ده چي دا بد اخلاقه سویده ددي څخه دا هم معلومیږي چي په اپریل کي دي کم قسم دخپلي پاك دامني کړی وو هغه دروغ او غلط وو په دي بنا ستا عدت چي په شرعه شریفه کي هرڅومره ورځي تیرول دي زه ستا دنفقي او خوراك ذمه وار نه یم او نه دمهر ذمه وار یم زما ماشوم اوس ددولسو کلو دی دهغه تعلیم او تربیت ډیر ضروري دی هغه به اوس زما تر کتني لاندي تعلیم حاصلوي اوزه چي په کم ځای کي یم هلته به دی هم وي زه دده لپاره بشپ کالج غوره کوم چي دی به هلته په حیثیت دبورډر وي (هغه ځای چي صرف دعیسایانو هلکانو دپاره مخصوص دی) ددي په بناء زه فلانۍ ته وایم چي سمدستي زما ماشوم ماته را ولیږي چي بیا کمه داسي کیسه پیښه نه سي چي سبب دخفګان وي) کله چي خلګو پرده باندي په دي بناء ډیر لعنت ووایه او ډیر یي ملامت کی نو ده خلګوته وویل خیر زه اوس طلاق بیرته اخلم بیابه په عدالت کي باقاعده طلاق ورکړم

همدا وو چي دطلاقنامي دراليږلو څخه يوه هفته وروسته يي دخپلي طلاقي سوي ښځي په نامه يو خط په ذريعه درجسټر چي په انګلش کي وو راوليږی چي دهغه ترجمه داده: ته چي زما دکور څخه بي خوښي دنورو په لمسون تللي وي او زه دخپل يوه قريب سره ستا دراوستلو لپاره درغلم تا دراتلو څخه انکار وکی ددي وجهي ما تاته يو کاغذ دطلاقنامي وليکی چي ته به وبيريږي کنې زما اراده دطلاق ورکولو هيڅکله هم نه وه او نه اوس ده ما کوشش کړی وو چي دا خط بيرته واخلم چي دا تاته در ونه رسيږي خو زما دلاس څخه وتلی وو خوته څه خيال مه کوه ځکه چي زما مقصد ستا سره تعلق ختمول نه وو او نه اوس دی تاته ښه معلومات دی چي زه په پنځلسم تاريخ ستا دراوستلو لپاره دفلاني فلاني سره درغلی وم خوتا ماشوم ته دراتلو اجازت ورکی او دا وعده دي وکړه چي په يو دوه ورځي کي به ته هم راسي خو افسوس چي تاخپله وعده پوره نه کړه نو ددي وجهي زه غواړم چي ته ژر راسي ځکه چي زه ستا غيرِ حاضري محسوسوم اوس ماته داخبر راکړه چي زه ستا دراوستلو لپاره په تا پسي کله درسم).
دا دوهم خط دواقعي څخه بالکل مختلف دی دي ښځي هيڅکله هم دتلو اراده نه ده ښکاره کړي او نه داپه خپل هلك ورکولو رضا وه بلکه هغه يي په زور بوتلی، اوس پوښتنه ددي خبري ده چي يوازي په اول خط طلاق واقع سو او که نه؟ که وي نوکم طلاق وو؟ اوکه واقع نه وي نو په پورته ذکر سوو واقعاتو سره به طلاق واقع وي اوکه نه؟ او ميړه به دعدت دزماني دنفقي او مهر ذمه وار وي او که نه؟ ذکر سوی سړی داسلامي تعليم څخه دومره ليري دی چي ده ته دا شعور هم نسته چي په کم حالت او کمه طريقه باندي طلاق ورکول کيږي او واقع کيږي ددي وجهي دطلاق مطابق دراييي قائمولو په وخت کی دي ددي خبري خيال ضرور وسي چي دداسي مطلق طلاق معنی هميشه تعلق ختمول ګڼل کيږي ښځه په طلاق ډيره زياته خوشحاله ده که په يوه حيله شرعيه سره هم دا مجبوره کړل سي نو دابه پردي ظلم وي ځکه چي داپه هيڅ طريقه سره هم راضي کيدونکي نه ده ذکر سوی سړی يوازي ددولت دهوس له وجهي ددي سره تعلق ختمول نه غواړي که څه هم شرعًا حرام او ممنوع تعلق وي دده نه دخپلي ښځي سره په صحيح معنی محبت وو او نه اوس سته لکه څنګه چي دتيرو سويو واقعاتو څخه ثابته سوه چي دضرورت په وخت کي په تفصيل سره وړاندي کيداي سي.

جواب: قال الله تعالی : الطلاق مرتان فامساك بمعروف او تسريح باحسان، الاية (۱) قال

(۱) سورة البقره رکوع ۲۹. ظفير

فی التفسیر الاحمدي یعني ان الطلاق الرجعي الذي یتعلق به الرجعة مرتان ای اثنان لا زائدتان فبعد ذلك امساکها بمعروف او تسریحها کذلك وهذا امر بصیغة الخبر کأنه قیل طلقوا الرجعي مرتین الخ ص**۲۵**، نو معلومه سوه چي په دوو طلاقو کي میړه په عدت کي دننه رجوع کولای سي او دعدت څخه وروسته نوي نکاح بلا حلاله کولای سي اوکه میړه دریم طلاق هم ورکی نوبیا رجوع صحیح نه ده بي له حلالي به نکاح صحیح نه وي، کما قال الله تعالی: فان طلقها فلا تحل له من بعد حتی تنکح زوجا غیره الخ، الآیه (۱) او طریقه دحلالي داده چي مطلقه ثلاثه به دعدت څخه وروسته چي دحائضي لپاره دری حیضه دي، کما قال الله تعالی: والمطلقات یتربصن بانفسهن ثلثة قروء (۲) ددوهم سړي سره نکاح کوي اوچي دوهم میړه ددخول څخه وروسته طلاق ورکړي بیايي عدت هم تیر سي نو په دي وخت کي که دا وغواړي نو داول میړه سره نکاح کولای سي نو په مسئوله صورت کي دتحریري طلاقنامي څخه علاوه دوه طلاقه ذکر دي یو معلق طلاق چي ددي ښځي دمیړه کورته په دغه شپه نه راتلو پوري معلق وو نو دا طلاق معلق سو کما هو حکم التعالیق (۳) وصرح به فی کتب الفقه، او دوهم طلاق چي کم یی فی الحال ورکی هغه هم واقع سو پاته سو دریم طلاق چي په ذریعه دطلاقنامي ورکړل سوی وو نوکه ددي تحریري طلاق څخه دده غرض دده دپخواني طلاق خبر ورکول وي نو بیا خو دوه طلاقه سوه اوکه نه ددي سره دده دنوي طلاق ورکول مقصود وو نو دری طلاقه دده پرښځه واقع سوه، په اول صورت کي په عدت کي دننه رجوع کول صحیح دي او دعدت څخه وروسته بي له حلالي نکاح صحیح ده اوپه دوهم صورت کي ښځه مطلقه ثلاثه سوه او مغلظه حرامه سوه په دي حالت کي بي له حلالي ددي سره نکاح صحیح نه ده په در مختار کي دي: کرر لفظ الطلاق وقع الکل وان نوی التاکید دین الخ قوله وان نوی التاکید دین او وقع الکل قضاءً وکذا اذا اطلق اشباه ای بان لم ینو أستینافا ولا تاکیداً لأن الاصل عدم التاکید الخ شامي. (۴)

په غصه کی یی په یوه ځل دری طلاقه ورکړل نوڅه حکم دی؟ **سوال:** (**۳۴۵**) یوه سړي خپلي ښځي ته په حالت دغصي کي په یوه ساعت کي دری طلاقه ورکړل نو په دي صورت کي دری طلاقه واقع سوه اوکه نه؟ رجوع صحیح ده اوکه نه؟

---

(۱) سورة البقره رکوع ۲۹. ظفیر
(۲) سورة البقرة رکوع ۲۸. ظفیر
(۳) اذا وجد الشرط انحلت الیمین (عالمگیري مصري ج۱ ص**۴۴۵**، ط. ماجدية ج۱ ص**۴۱۵**). ظفیر
(۴) ردالمحتار باب الصریح ج ۲ ص ۷۳۲. ط. س. ج۳ ص۲۹۳. ظفیر

جواب: په دي صورت کي دری طلاقه دده پرښځه واقع سوه او دامطلقه ښځه پرخپل میړه مغلظه حرامه سوه بي له حلالي دمیړه دپاره ددي سره نکاح صحیح نه ده او رجوع هم صحیح نه ده. (۱)

ښځه اومیړه دطلاقو څخه انکار کوي او دریم سړی په دښمني کی شاهدی ورکوي نو څه حکم دی؟ **سوال**: (۳۴۶) ښځه او میړه په طلاقو اقرار نه کوي بلکه منکر دي خو دریم سړی ددښمنی په وجه شاهدي ورکوي چي میړه طلاق ورکړی دی نو دا راته ووایاست چي طلاق واقع سو او که نه؟ ډیره مهرباني به مو وي.

جواب: که ددي شاهدانو دښمنی دده سره په دنیوي معاملاتو کي وي نو ددښمن شاهدي معتبره نه ده او طلاق ثابت نه دی. (۲)

په لاندیني صورت کی طلاق واقع سو او که نه؟ **سوال**: (۳۴۷) زید خپلي ښځي ته طلاق ورکی او همدغه ښځه يي لس دولس کاله وساتله په دي دوران کي ددی دری هلکان پیدا سوه اوس کلیوالو دی ونیوی نو زید مجبور سو او په مجمع عام کي يي اقرار وکی چي یو طلاق مي په ورکولو سره ورکی اوپه.نه ورکولو سره مي ورکی دوهم طلاق مي په ورکولو سره ورکی په نه ورکولو سره مي ورکی او دریم طلاق مي په ورکولو سره ورکی او په نه ورکولو سره مي ورکی طلاق واقع سو او که نه؟ او اولاد ولد الحرام دی او که نه حلال؟

جواب: په دي الفاظو سره طلاق واقع سو ددریو طلاقو څخه وروسته نکاح بالکل ماتیږي او بي له حلالي دوباره ددي سره نکاح نه سي کیدای (۳) نو ددریو طلاقو څخه وروسته بي له حلالي اوبي له نکاح چي کمه وطی وسوه هغه زناده او اولاد ولد الحرام دی.

دعهد څخه په مخالفت کولو سره طلاق واقع کیږي اوکه نه؟ **سوال**: (۳۴۸) شیخ فدا حسین دویسن نومي ښځي سره نکاح وکړه او وړاندي دعقد څخه يي دا اقرار ولیکی چي زه

---

(۱) والبدعي ثلاث متفرقة او ثنتان بمرة او مرتين فی طهر واحد لا رجعة فيه (درمختار) ثلاث متفرقة وكذا بكلمة واحدة بالاولى الخ ذهب جمهور الصحابة والتابعين ومن بعدهم من ائمة المسلمين الى انه يقع ثلاث (ردالمحتار كتاب الطلاق ج۲ ص۵۷۲. ط. س. ج۳ ص۲۳۳ - ۲۳۲) ويقع الطلاق من غضب خلافا لابن القيم (ايضا ج۲ ص۵۸۷. ط. س. ج۳ ص۲۴۴). ظفير

(۲) ولو العدارة للدنيا لاتقبل سواء شهد على عدوه او غيره (الدرالمختار على هامش ردالمحتمار باب القبول وعدمه ج۴ ص۵۲۸). ظفير

(۳) ينكح مطلقة من نكاح صحيح نافذ بها اى بالثلاث الخ حتى يطأها غيره بنكاح نافذ وتمضى عدة الثاني (الدرالمختار على هامش ردالمحتار باب الرجعة ج۲ ص۷۳۹. ط. س. ج۳ ص۴۰۹). ظفير

شيخ فدا حسين به دواده كولو وروسته پخواني وطن پريږدم دخپلي ښځي سره به ټول عمر اوسيږم او چي څه گټه وټه وی هغه به ټوله شيخ وزير خپل خسر ته ورکوم او نور ... که مي ددي اقرار مخالفت وکی نو زما خسرته به اختيار وي چي دخپلي لور ويسن نکاح دبل سړي سره وکړي ماته به هيڅ عذرنه وي، اوس به دوعدي په مخالفت كولو سره دفدا حسين دښځي دوهمه نکاح جائز وي او که نه؟

جواب: دا اقرار دشيخ فدا حسين موجب دطلاق دده دښځي نه دی ځکه نو دعهد څخه په مخالفت کولو سره دهغه پرښځه طلاق نه واقع کيږي او دوهمه نکاح دويسن بي له طلاقه دشيخ فداحسين او بي له تيريدو دعدت څخه نه صحيح کيږي (۱).

دپنځلسو کالو په عمر کی په طلاق ورکولو سره طلاق صحيح کيږي؟ سوال: (۳۴۹) اکبر علی دخپلي نابالغي لور نکاح ديوه کس سره وکړه هلك دپنځلسو کالو سوی دی ددي هلك پلار وايي چي دی نابالغ دی او ميړه دي انجلۍ ته طلاق ورکړی دی نو طلاق واقع سو اوکه نه؟ او انجلی دده نکاح فسخ کولای سي اوکه نه؟ او دوهمه نکاح ددي انجلی صحيح ده اوکه نه؟

جواب: اول خو دپلار کړي نکاح لور دبلوغ څخه وروسته نه سي فسخ کولای لکه څنگه چي دفقهي په کتابونو کي ليکلي دي ددي څخه علاوه دنکاح دفسخي لپاره دقاضي فسخ کول ضروري دي (۲) صرف دښځي په انکار نکاح نه فسخه کيږي او چي کله ميړه بالغ سي او طلاق ورکړي نو طلاق به واقع سي که اوس هم ميړه بالغ وي يعني پنځلس کاله عمر لري او ده طلاق ورکړی وي نو طلاق واقع سوی دی (۳) کله چي ميړه دپنځلسو کلو وي نو دده دپلار په دي ويلوسره چي هلك بالغ نه دی هيڅ هم نه کيږي دپنځلسو کلو په عمر کي دی بالغ دی که څه هم علامه دبلوغ ښکاره نه وي. (۴)

طلاق دی ووزه، په دې ويلو سره کم طلاق واقع کيږي؟ سوال: (۳۵۰) ديوي ښځي ماشوم تر ډيره وخته پوري ژړل پرميړه ژړا بده لگيدله ددي وجهي څخه يي هغه منع کی او

---

(۱) اما نکاح منکوحة الغير (الی قوله) لم يقل به احد بجوازه فلم ينعقد اصلا (ردالمحتار ج۲ ص۴۸۲). ظفير

(۲) وحاصله انه اذا كان مزوج الصغير والصغيرة غير الاب والجد فلهما الخيار بالبلوغ او العلم به فان اختار الفسخ لا يثبت الفسخ الا بشرط القضاء (ردالمحتار ج۲ ص۴۲۱. ط. س. ج۳ ص۷۰). ظفير

(۳) ويقع طلاق كل زوج بالغ عاقل ولو تقديرا (الدرالمختار على هامش ردالمحتار ج۲ ص۵۷۹. ط. س. ج۳ ص۲۳۵). ظفير

(۴) بلوغ الغلام بالاحتلام والاحبال والانزال (الی قوله) فان لم يوجد فيهما شيء منها فحتى يتم لكل منهما خمس عشرة سنة به يفتى (درمختار ج۲ ص۱۹۹، درمختار بغير دشامي كتاب الحجر فصل ج۲ ص۱۹۹ او دشامي سره دايچ ايم سعيد حواله ج۲ ص۱۵۳، على هامش ردالمحتار ج۲ ص۵۷۹). ظفير

ښځي ته يي وويل چي دى چپ کړه بيايي دوباره منع کى خو کله چي ماشوم چپ نه سو نو ميړه په حالت دغصي کي خپلي ښځي ته وويل چي ستا خو دکور څخه ايستل پکار دي. ښځي په جواب کي ورته وويل چي: ومي باسه په دي وخت کي ميړه دکور څخه دښځي دايستلو په غرض قسم وکى اوويي ويل چي: تاته طلاق دى ووځه! خو دده دا ويل ارادةً نه وه او طلاق يي هم صرف يو ځل ورکړى دى نوپه داسي صورت کي څه حکم دى؟ بينوا توجروا!

جواب: په دي صورت کي بائن طلاق واقع سو او رجوع صحيح نه ده او نکاح په عدت کي دننه او دعدت څخه وروسته بي له حلالي کيداى سي، که ميړه اوښځه په خپل مينځ کي نکاح کول غواړي نو دوباره دي په نوي مهر په حضور دشاهدانو کي نکاح وکړي همدا کفاره ده بله کفاره نسته. هکذا في کتب الفقه. (۱)

__په غلط فهمي سره چه طلاق ورکړي نوهغه هم واقع سو__: **سوال**: (۳۵۱) يوه سړي ديوي ښځي سره نکاح وکړه او څو ورځي وروسته ښځه مريضه سوه او ددي پرښځه دپړسيدلو آثار ښکاره سوه هرڅنګه علاج چي وسو څه فرق رانغى ترڅلورو مياشتو وروسته ناڅاپه په ټوله کورنۍ کي داخبره مشهوره سوه چي دفلانى ښځي دواده څخه مخکي حمل دى ډاکټرانو هم چي وکتل نو وي ويل چي دا دواده څخه مخکي حمل دى په همدي وجه ميړه ديته درى طلاقه ورکړل خو دډاکټرانو دقول مطابق دطلاق څخه درى مياشتي وروسته وضع دحمل په کاروه دوه مياشتي وروسته معلومه سروهچي حمل دواده څخه وروسته دى يعني ددي دميړه دى دا خبره په غلط فهمى سره وسوه پردي ښځي طلاق واقع سو اوکه نه؟ که واقع سوى وي نو اوس به څنګه داښځه داول ميړه کيږي؟

جواب: که دنکاح څخه شپږ مياشتي وروسته وضع دحمل وسوه نو داحمل شرعًا دميړه دى او نسب ددي بچي دده څخه ثابت دى (۲) خو کله چي ميړه په غلط فهمي سره درى طلاقه ورکړي دي نو درى طلاقه واقع سوه که دوباره ددي سره نکاح کول غواړي نو بي له حلالي داول ميړه سره نکاح نه سي کولاى (۳) او دحلالي طريقه دا ده چي دعدت دتيريدو يعني دحمل دوضع څخه وروسته به دا ښځه دبل سړي سره نکاح وکړي اوهغه

---

(۱) واذا کان الطلاق بائنا دون الثلاث فله ان يتزوجها في العدة وبعد انقضائها (هدايه ج۲ ص۳۷۸). ظفير

(۲) ومن قال ان تزوجت فلانة فهي طالق لتزوجها فولدت ولدًا لستة اشهر من يوم تزوجها فهو ابنه (هدايه باب ثبوت النسب ج۲ ص۴۰۸). ظفير

(۳) وان کان الطلاق ثلاثا في الحرة او ثنتين في الامة لم تحل له حتى تنکح زوجا غيره نکاحا صحيحا ويدخل به ثم يطلقها او يموت عنها (هدايه باب الرجعة ج۲ ص۳۷۸). ظفير

سړی به دجماع او وطي وروسته دي ته طلاق ورکړي بیا دعدت یعني دريو حیضونو دتیریدو وروسته اول میړه ددې سره نکاح کولی سي.

یو طلاق یی ورکی او رجوع یی وکړه بیا دخپل قول مطابق یی یو طلاق ورکی او دبل په قول دوه نور، نوڅه حکم دی؟ **سوال:** (۳۵۲) زید خپلي ښځي زینب ته یورجعي طلاق ورکی او رجوع يي وکړه یوه موده وروسته دشپي زید خپل کور ته راغی او خپلي ښځي ته يي وويل چي دروازه خلاصه کړه نو ښځي دروازه خلاصه نه کړه زید په غصه کي په نیت دطلاق رجعي وويل فلانی دفلاني لور تاته طلاق، زید وايي ما دا لفظ یو ځل ووایه او دده پلار وایي چي نه تا دوه ځله دا الفاظ وويل نو په دي صورت کي جدیده نکاح کافي ده اوکه دحلالي ضرورت سته؟

جواب: چي څه زید وایي او زید ته یاد وي نو دهغه دقول اعتبار دی نویو طلاق رجعي يي مخکی ورکړی وو او ددي څخه وروسته يي دي ته رجوع وکړه اوس دادوهم طلاق دی ددي وجهي داهم طلاق رجعي دی ځکه چي تر دوو طلاقو پوري رجعي وي، کما قال الله تعالی: الطلاق مرتان، (۱) یعني طلاق رجعي دوه طلاقه دي اوکه دا وروستنی طلاق دوه طلاقه ومنل سي لکه څنګه چي دزید پلار وایي نو بیابه دری طلاقه واقع سي؟ او دحلالي ضرورت به وي او بي له حلالي به دا داولني میړه لپاره حلاله نه وي خو شرعًا تر دوو شاهدانو په کمو شاهدانو سره طلاق نه ثابتیږي نو چي کله زید ته هم یو طلاق ورکول په یاد دي نو هم ددي اعتبار به وي، په دي حالت کي بي له نکاح زید خپلي ښځي ته په عدت کي رجوع کولای سي (۲).

میړه طلاق ورکی خو شاهد نسته نو ښځه څه وکړي؟ **سوال:** (۳۵۳) چي کمي ښځي ته دهغي میړه مغلظ طلاق ورکړي او داښځه په شاهدانو دا طلاق ثابت نه کړي او میړه په قسم سره دطلاقو څخه منکر وي او ښځه سره له وجوده دخپله علمه په یقیني ډول خپل صدق او دمیړه کذب ثابت نه کړي نو په داسي صورت کي ښځي لره دمیړه سره اوسیدل جائز دي او که نه او دعدت څخه وروسته عقد ثاني کولای سي اوکه نه؟ آیا دوقوع دطلاق لپاره دشاهدانو وجود شرط دی؟ او که عقد ثاني شرعًا نه سي کولای نوڅه تدبیر وکړي؟

جواب: په مسئوله صورت کي ښځي ته دمیړه سره اوسیدل دیانة حرام اوګناه ده او دعدت

---

(۱) سورة البقره رکوع ۲۸. ظفیر

(۲) اذا طلق الرجل امراته تطليقة رجعية او تطليقتين فله ان يراجعها في عدتها رضيت بذلك اولم ترض (هدايه باب الرجعة ج۲ ص۳۷۳). ظفیر

(۱) دتیریدو ځخه وروسته یي ددوهم سړي سره نکاح جائزه ده او دطلاق دوقوع لپاره دشاهدانو وجود ضروري نه دی خو ددوهم عهد کول خلاف دمصلحت دي هسي نه چي دشاهدانو دنه وجود په سبب ځه فتنه پیدا سي.

ما طلاق درکی، یی وویل نو ځه حکم دی؟ **سوال:** (۳۵۴) یوه سړي دپنځه دیرشو کلو په عمر خپلي ښځي ته په حالت دغصي کي وویل چي ځه ماتاته طلاق درکی دا جمله یي یوځل وویله نو دا طلاق صحیح سو او که نه؟

جواب: په دي صورت کي دوه بائن طلاقونه واقع سوه اوس رجوع نه سي کولای خو دوباره نکاح کولای سي په دي شرط چي دری ځله یي دا لفظ نه وي ویلي. (۲)

طلاق مي درکی ویل یي یوځل یاد دي او دوې ښځي شاهدي ورکوي چي دری ځلي دي ویلي دي نو ځه حکم دی؟ **سوال:** (۳۵۵) زید هندي ته طلاق په دي طریقه ورکی ښځي ویل که ته اصل یي نوما پریږده زید وویل چي طلاق مي درکی خو دغصي له وجي یي هوش او حواسو کار پریښی وو له همدي وجهي یي په یاد نه دی چي څو ځله یي ویلي دي دوې ښځي چي هلته موجودي وي هغوی وایي چي دری طلاقه دي ورکړل؟

جواب: په دي صورت کي دشهادت نصاب نه پوره کیږي نو دشهادت دنصاب دنه پوره کیدو په وجه به یو طلاق دزید داقرار مطابق واقع وي.

په اقرار سر طلاق واقع کیږي: **سوال:** (۳۵۶) یوه سړي ددوو شاهدانو په مخکي ښځي ته طلاق ورکی او بیا یي دقاضي په مخکي اقرار وکی چي شپږ میاشتي سوي دي چي ما طلاق ورکړی دی، ښځه هم اقرار کوي چي شپږ میاشتي سوي دي چي ماته میړه طلاق راکړی دی اوس چي چا ددی ښځي سره نوي واده کړي دی میړه دهغه سره پرېکون (بایکاټ\خوابدي) کړی دی، او میاجي صاحب کفاره ورته ښولي ده چي یوسل اوشلو مسکینانو ته خوراك ورکړه او ځلوېښت وخته لمونځ وکړه او دجرګي غړو پنځه روپۍ جرمانه پر ایښي ده نو په دي صورت کي ځه حکم دی؟

جواب: چي کله میړه اقرار کوي چي شپږ میاشتي سوي دي چي ما طلاق ورکړی دی او ښځه هم اقرار کوي نو دهیڅ شاهد ضرورت نسته ددواړو دقول ځخه دشپږو میاشتو

---

(۱) والمرأة كالقاضي اذا سمعته او اخبرها عدل لا يحل لها تمكينها (ردالمحتار باب الصريح ج۲ ص۵۹۴. ط. س. ج۳ ص۲۵۱). ظفير

(۲) البائن يلحق الصريح والصريح ما لايحتاج الى نية بائنا كان الواقع به او رجعيا (ردالمحتار باب الكنايات ج۲ ص۶۴۵. ط. س. ج۳ ص۲۰۷) وينكح مبانئة بما دون الثلاث فى العدة وبعدها بالاجماع (ايضا ج۲ ص۵۳۸. ط. س. ج۳ ص۴۰۹). ظفير

طلاق ثابت دی اوپه شپږو میاشتو کي ښځي ته دری حیضه ورغلي دي نو ددي عدت تیرسوی دی نو دعدت څخه وروسته چي ښځه دوهمه نکاح وکړي نو دا صحیح ده په دي کي پرچا الزام لګول تعلق بندول جرمانه کول جائز نه دی میاجي چي کمه کفاره ښودلي ده او دجرګي غړو چي کمه جرمانه ښوولي ده ټول غلط او ناجائز دي.

ددښمني په وجه يي شاهدي ورکړه چي طلاق يي ورکړی دی نو څه حکم دي؟ **سوال**: (۳۵۷) یوه سړي خپلي ښځي ته طلاق نه دی ورکړی خو دری کسان په سبب ددښمني دا وايي چي ده خپلي ښځي ته طلاق ورکړی دی ذکر سوي سړي ددي دریو واړو سره دعوه کړي ده ددي وجهي يي دښمني ده نو په دي صورت کي به طلاق واقع وي اوکه نه؟

جواب: که دوه سړي ثقه او عادلان دطلاق شاهدي ورکړي نو طلاق ثابتیږي خو ددښمني شاهدي نه ده معتبره که ددي دوو یا دریو سړیانو چي شاهدي ورکوي دښځي دمیړه سره يي په دنیوي معامله کي دښمني وي نو ددوي په شاهدي به طلاق ثابت نه وي (۱).

شاهد چي کله موجود وي نو په انکار سره هیڅ نه کیږي: **سوال**: (۳۵۸) یوه سړي خپلي ښځي ته دڅو سړیانو په مخکي طلاق ورکی او خپلي ورکړي ګیڼي يي بیرته ورڅخه واخیستي اوبله نکاح يي هم وکړه خو چي کله ښځي دمهر دعوی وکړه نو دی دطلاق څخه منکر سو په دي صورت کي طلاق واقع سو اوکه نه؟ اوښځه بله نکاح کولای سي اوکه نه؟

جواب: په دي صورت کي چي دطلاق شاهد سته نو طلاق ثابت سو او دمیړه انکار معتبر نه دی ددوو عادلانو په شاهدي سره طلاق ثابتیږي (۲) دلیکلو ضرورت نسته دعدت دتیریدو څخه وروسته طلاقه سوي بل واده کولای سي. فقط

چي میړه څو ځله ووایي اوس طلاق در کوم نو څه حکم دي؟ **سوال**: (۳۵۹) زید خپلي ښځي ته ښکنځل وکړه څو ځله يي وویل چي زه دیته اوس طلاق ورکوم نو په دي صورت کي څه حکم دی؟ ښځه بله نکاح کولای سي اوکه نه؟

جواب: دمیړه دا قول چي زه اوس دیته طلاق ورکوم او دا دمور او خور پرځای بولم دطلاق موجب دی اوکه دا لفظ يي دری ځله یا تردریو ځلو زیات ویلی وي نو حرمت مغلظه ثابت سو اوبي له حلالي دا ښځه اوس داول میړه په نکاح کي نه سي راتلای، قال

---

(۱) وعدو بسبب الدنیا (درمختار) فتحصل من ذلك ان شهادة العدو علی عدوه لا تقبل (ردالمحتار کتاب الشهادات باب القبول وعدمه ج۴ ص۵۲۸. ط. س. ج۵ ص۴۸). ظفیر

(۲) ونصابها لغیرها من الحقوق سواء کان الحق مالا او غیره کنکاح وطلاق الخ رجلان او رجل وامرأتان (ایضا کتاب الشهادة ج۴ ص۵۱۵ ط. س. ج۵ ص۴۶۵). ظفیر

في الدرالمختار ای مثل ما سيذكره من نحو كوني طالقا او اطلق ويا مطلقة بالتشديد وكذا المضارع اذا غلب في الحال مثل اطلقك في البحر (۱) او چي كله دزيد ښځه طلاقه سوه نو دعدت څخه وروسته چي دری حيضه دي دهغي دبل سړي سره نكاح كول صحيح دي.

دچا په ويلو يي دری ځله طلاق په يوه وار ورکی نو واقع سو او که نه؟ **سوال:** (۳۲۰) يوه مولوي يوه جاهل ته وويل اوپه هغه يي ښځي ته په يوه ځل دری طلاقه ورکړل حال دادی چي ښځه بي عيبه وه نو په دي صورت كي څه حكم دی؟ آيا په يوه ځل دری طلاقه واقع سوه اوكه نه؟ او ددي مولوي په باره كي څه حكم دی؟

جواب: دری طلاقه دده پرښځه واقع سوه خوبي له كمي وجهي په چا ښځه طلاقول بدكار دی او دری طلاقه په يوه ځل اچول يا په بل اچول دسنت خلاف كار دی چي هر مولوي داسي كړي دي بد يي كړي خو دری طلاقه واقع سوه او داښځه پرميړه مغلظه حرامه سوه (۲). فقط

په غصه کی يی وويل يو طلاق دوه طلاقه، نوڅه حکم دی؟ **سوال:** (۳۲۱) دزيد نكاح دهندي سره سويده دزيد او دهندي په مينځ كي جګړه راغله زيد په غصه كي وويل يو طلاق دوه طلاقه دری طلاقه نو په دي الفاظو سره طلاق واقع سو اوكه نه؟

جواب: په دي صورت كي دده پرښځه دری طلاقه واقع سوه او قرينه ددي موجوده ده چي داسړي خپلي ښځي ته وايي: قال في الدرالمختار ويؤيده ما في البحر لو قال امرأة طالق او قال طلقت امرأة ثلاثا وقال لم اعن امرأتي يصدق الخ ويفهم منه انه لو لم يقل ذلك تطلق امرأته لان العادة ان من له امرأة انما يحلف بطلاقها لا بطلاق غيرها فقوله ان حلفت بالطلاق ينصرف اليها ما لم يرد غيرها الخ. (۳)

دلمونځ نه کوونکی په شاهدی سره طلاق نه ثابتيږي: **سوال:** (۳۲۲) يوه بي نمازه بدمعاش يوه ښځه ولمسوله چي ته دعوه وكه چي ميړه ماته طلاق راكړي دی او دا بدمعاش بالكل دشرعي مخالف دی ددي بدمعاشانو په شاهدي عدالت دطلاق تصديق ونه كی اوس چي څه دشريعت حكم وی نو بيان يي كړئ؟

---

(۱) ردالمحتار باب الصريح ج۲ ص۵۹۱. ط. س. ج۳ ص۲۴۸. ظفير

(۲) قال لزوجته غير المدخول بها انت طالق ثلاثا الخ وقعن وإن فرق بانت بالأولى ولم تقع الثانية بخلاف الموطوئة حيث يقع الكل (الدرالمختار على هامش ردالمحتار باب طلاق غير المدخول بها ج۲ ص۲۲۴. ط. س. ج۳ ص۲۸۴) بدعي يعود الى العدد ان يطلقها ثلاثا في طهر واحد بكلمة واحدة او بكلمات متفرقة الخ فاذا فعل ذلك وقع الطلاق وكان عاصيا (عالمكيري كتاب الطلاق ج۱ ص۳۴۹). ظفير

(۳) ردالمحتار باب الصريح ج۲ ص۵۹۱. ط. س. ج۳ ص۲۴۸). ظفير

جواب: دطلاق دثابتولو لپاره ددوو عادلو شاهدانو يعني لمونځ ګذارو پرهيزګارو دکبائرو څخه ځان ساتونکو شاهدي ضروري ده دفاسقانو او دشريعت دمخالفو خلګو په شاهدي سره طلاق نه ثابتيږي چي کله ميړه دطلاق څخه انکار کوي نو په مسئوله صورت کي دداسي خلګو په شاهدي سره لکه په پوښتنه کي چي ذکر دي طلاق ثابت نه دی. (۱)

طلاق به درکړم، په دې ويلو سره طلاق واقع کيږي اوکه نه؟ سوال: (۳۲۳) يو سړي نامرد دی او ده دا ويلي دي چي زه به خپلي ښځي ته طلاق ورکم خو دچاپه لمسون يي طلاق ورنکی نو آيا په دې ويلو سره چي طلاق په ورکم طلاق واقع کيږي اوکه نه؟ اويو ځل په حالت دنابالغتيا کي دده مور هم طلاق ورکړی وو نو آيا طلاق واقع سو اوکه نه؟

جواب: په دې صورت کي طلاق نه دی واقع سوی ځکه شرعا دنابالغتوب طلاق نه واقع کيږي او دطلاق په اراده او وعده کولوسره هم طلاق نه واقع کيږي (۲) او دعنين دښځي بي له طلاق څخه دجدا کولو لپاره څو شرطونه دي چي هغه نه پوره کيږي نو ددې وجهي څخه چي تر څو ميړه طلاق ورنه کړي دده ښځه به دده دنکاح څخه جلا نه وي او دوهمه نکاح به صحيح نه وي.

ښځه وايي چي ميړه طلاق مغلظ راکړی دی او ميړه منکر دی نو څه حکم دی؟ سوال: (۳۲۴) دزيد ښځه هنده دعوه کوي چي زيد ماته مغلظ طلاق راکړی دی او ددوو کلو راهيسي زما دده سره تعلقات ختم دي خو دهغي سره شاهدان نسته په حالت کي دشر دفع کولو لپاره دمنکر ميړه څخه دقسم داخيستلو څخه وروسته ښځه هغه ته حواله کيدای سي او که نه؟

جواب: هندي ته که يقين وي چي ددې ميړه زيد ديته طلاق مغلظ ورکړی دی نو دې ته روا نه دي چي دزيد سره تعلق وساتي او که په هرډول کيدای سي نو دريد څخه دې جلا سي او هيڅ لره هم جائز نه دي چي په دې حالت کي هنده زيد ته حواله کړي او که جبرا هنده زيد ته حواله سي نو هنده به ګنهګاره نه وي او زيد به ګنهګار وي په درمختار کي دي: سمعت من زوجها انه طلقها ولا تقدر علی منعه من نفسها الا بقتله، لها قتله بدون

---

(۱) کل فرض له وقت معين کالصلوة والصوم اذا اخر من عذر سقطت عدالته الخ اذا ترك الرجل الصلوة استخفافا بالجماعة بان لا يستعظم تفويت الجماعة كما تفعله العوام او مجانة او فسقا لا تجوز شهادته (عالمګيري مصري کتاب الشهادة باب الرابع الفصل الثاني ج۳ ص۴۶۲). ظفير

(۲) او انا طلق نفسي لم يقع لانه وعده ما لم يتعارف أو تنو الانشاء فتح (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب التفويض ج۲ ص۷۵۷. ط. س ج۳ ص۳۱۹). ظفير

خوف القصاص ولا تقتل نفسها وقال الاوزجندي ترفع الامر للقاضي فان حلف ولا بينة فالاثم عليه الخ وقيل لا تقتله الخ وبه يفتي الخ والاثم عليه. الخ درمختار (۱).

دوه ځله يې وويل طلاق به درکړم او يو ځل يې وويل طلاق مې درکی نوڅه حکم دی؟

سوال: (۳۷۵) محمد دين خپلي ښځي لچمني ته دوه ځله وويل طلاق به درکړم او يو ځل يي وويل طلاق مي درکی او اوس محمد دين او دده ښځه په يوځای اوسيدو راضي دي خو ځيني وګړي شاهدي ورکوي چي موږ دمحمد دين دژبي څخه دری طلاقه اوريدلي دي خو داوريدلو په وخت کي محمد دين زموږ په وړاندي نه وو دده اواز موږ په خپل کور کي اوريدلی دی نو په دي صورت کي ددوی شاهدي معتبره ده او که نه؟

جواب: قال في الدرالمختار ولا يشهد علي محجب سماعه منه الا اذا تبين القائل بان لم يکن في البيت غيره لکن لو فسر لاتقبل الخ قوله فسر ای بانه شاهد علی المحجب الخ شامي (۲) نو په دي صورت کي دشاهدانو شاهدي معتبره نه ده نو ددي وجهي څخه موافق داقرار دزوج يو طلاق دده پرښځه واقع دی او هغه هم رجعي دی په عدت کي رجوع صحيح ده او دعدت څخه وروسته نوي نکاح ته ضرورت دی.

دنفقي په نه ورکولو سره طلاق واقع کيږي اوکه نه؟ **سوال:** (۳۷۶) يوه سړي طلاق ورکی او ښځه يي دکوره وايستله ددي اته کاله اوځلور مياشتي وسوي نو داښځه بل ځای نکاح کولای سي او که نه؟

ددي جواب مولوي عبدالحق صاحب چي نوي مسلمان سوی شخصيت دی، دا ليکلی دی چي دحنفي، شافعي مالکي او حنبلي مذهب اتفاق دی چي کم سړی خپلي ښځي ته تر ځلورو کلو پوري نفقه ورنه کړي او دکور څخه يي وباسي نو شرعا طلاق واقع کيږي او دقرانکريم په آيت سره ثابته ده چي ددريو طلاقو څخه وروسته دځلورو مياشتو اولسو ورځو وروسته ښځه بله نکاح کولای سي اوچي کمه شاهدي دطلاق دمعتبرو شاهدانو سره تيره سوه ددي شهادت په وجه شرعاً ددي ښځي نکاح کول جائز دي نو دا جواب صحيح دی او که نه؟

جواب: اقول وبالله التوفيق. دافتوی دمولوي عبدالحق نوي مسلمان صحيح نه ده دا دعوه دده چي په حنفي شافعي، مالکي او حنبلي مذهب کي دي چي: تر ځلورو کلو پوري دنفقي په نه ورکولو باندي طلاق واقع کيږي غلطه ده او دعوی داتفاق يي باطله ده (۳)

---

(۱) الدرالمختار علی هامش ردالمحتار قبيل باب الايلاء ج۲ ص۷۴۸. ط. س. ج۳ ص۴۲۰. ظفير

(۲) وګورئ: ردالمحتار للشامي کتاب الشهادة قبيل الفرع ج۴ ص۵۱۸. ط. س. ج ۵ ص ۴۲۸. ظفير

(۳) ولا يفرق بينهما بعجزه عنها ای النفقة بانواعها الثلثة وهی ماکول وملبوس ومسکن ولا بعد ايفائه ولو =

او دری میاشتي او لس ورځي عدت ګڼل هم غلط دي، عدت دطلاق په قرآني نص سره دری حیضه دی او چي کمي ښځي ته حیض نه ورځي دهغې عدت دری میاشتي دي (۱) نو جواب داصلي پوښتني دا دی چي که دي ښځي ته میړه طلاق ورکړی وي او دوه عادل شاهدان دطلاق شاهدي ورکړي نو دعدت دتیریدو څخه وروسته یعني ددریو حیضو څخه وروسته دا دوهمه نکاح کولای سي.

ښځي ته یی وویل چي زما دطرف څخه طلاق دی ولاړه سه نو کم طلاق واقع سو؟ سوال: (۳۲۷) زید خپلي ښځي هندي ته په تنهایي کي وویل چي زما دطرف څخه طلاق دی ځه ولاړه سه نو په دي صورت کي طلاق واقع سو او که نه؟ او هنده بل ځای نکاح کولای سي او که نه؟

جواب: که زید هندي ته دا ویلي وي چي زما دطرف څخه تاته طلاق دی ولاړه سه نو پرهندې بائن طلاق واقع سو او په یوازیوالي کي په طلاق ورکولو سره هم طلاق واقع کیږي په داسي صورت کي چي هندي ته دزید طلاق ورکول معلوم دي نو هنده دطلاق دعدت چي دری حیضه دي دتیریدو څخه وروسته بل ځای نکاح کولای سي. (۲)

دپیر دبیرې په طلاق ورکولو سره طلاق واقع سو او که نه؟ سوال: (۳۲۸) یوه پیر دمرید ږیره ونیوله اوښه په زوره یي وژړل او ویي ویل چي ستا ښځه زنا کاره ده طلاق ورکړه زید مرید دخپل ځان دبیرې په وجه شپږ اوه ځله ښځي ته طلاق ورکړی نو په دي صورت کي طلاق واقع سو او که نه؟

جواب: په دي صورت کي دزید پرښځه دری طلاقه واقع سوه: کما فی الدرالمختار ویقع طلاق کل زوج بالغ عاقل ولو عبدًا اومکرهًا الخ قوله فان طلاقه صحیح ای طلاق المکره شامي. (۳)

= غائبا حقها ولو موسرا وجوز الشافعي باعسار الزوج وتضررها بالغیبة ولو قضی به حنفي لم ینفذ (درمختار) قوله حقها ای من النفقة قوله لو موسرا المناسب لو معسرا لانه اشارة الی خلاف الشافعي والاصح عنده عدم الفسخ بمنع الموسر حقها کمذهبنا (ردالمحتار باب النفقة مطلب فسخ النکاج بالعجز عن النفقة ج۲ ص۹۰۳. ط. س. ج ۳ ص۵۹۰). ظفیر

(۱) والمطلقت یتربصن بانفسهن ثلثة قروء، سورة البقرة، واللائي یئسن عن المحیض من نساءکم ان ارتبتم فعدتهن ثلثة اشهر وأولات الاحمال أجلهن ان یضعن حملهن، سورة الطلاق. ظفیر

(۲) ان الصریح نوعان صریح رجعي وصریح بائن فالاولی ان یکون بحروف الطلاق بعد الدخول حقیقة غیر مقرون بعوض ولا بعدد الثلاث لا نصا ولا إشارة ولا موصوفا بصفة تنبئ عن البینونة الخ واما الثاني فبخلاله وهو ان یکون بحروف الابانة وبحروف الطلاق لکن قبل الدخول حقیقة اوبعد لکن مقرونا بعدد الثلاث نصا او اشارة او موصوفا بصفة تنبئ عن البینونة الخ (ردالمحتار باب الصریح ج۲ ص۵۹۲. ط. س. ج۳ ص۲۵۵). ظفیر

(۳) وګورئ ردالمحتار کتاب الطلاق ج۲ ص۵۷۹. ط. س.- ج۳ ص۲۳۵. ظفیر

ولاړه سه تاته طلاق دی دا یی وویله نوڅه حکم دی؟ سوال: (۳۶۹) زید په غصه کي خپلي ښځي ته وویل چي ته ولاړه سه او ددي ځای څخه ووزه تاته طلاق دی دا یي په یاد نه دی چي دطلاق لفظ یي یوځل ووایه او که دوه ځله اویا دری ځله په دي صورت کي څه حکم دی زید په یو طریقه ښځه ساتلی سي او که نه؟

جواب: په دي صورت کي بائن طلاق دزید پرښځه واقع شوی دی رجوع صحیح نه ده خوکه یو یا دوه طلاقه یي ورکړي وي نو جدیده نکاح په عدت کي او دعدت څخه وروسته صحیح ده اوکه دری طلاقه ورکول ورته یاد وي یعني په غالب ظن دری ځله لفظ دطلاق ویل ورته یاد وي نو بیا بغیر دحلالي څخه نوي نکاح هم جائزه نه ده خو دشك په صورت کي به دری طلاقه نه ګڼل کیږي یو طلاق به وي چي دهغه حکم پورته ولیکل سو. ([1])

په تحریري او زباني دواړو ډولونو سره طلاق واقع کیږي: سوال: (۳۷۰) زید دخپلي بد کرداري په وجه خپلي ښځي ته چي هغه دډیري مودي راهیسي دخپل پلار پرکور ده دخط په ذریعه دوه طلاقه ورکړل او دڅو خطونو په ذریعه یې مفصل طلاق ورکی او دتحریر څخه علاوه ددوو سړیانو په مخکي چي نیکان او صالحان دي دا وویل چي ما خپلی ښځي ته طلاق ورکی او تاسو شاهدان یاست او زما دښځي مور او ورور ته ووایاست چي ده طلاق ورکی نو په دي صورت کي څه حکم دی؟

جواب: په دي صورت کي چي میړه ددوو نیکانو سړیو په مخ کي خپلي ښځي ته طلاق ورکی نو طلاق واقع سو او دمیړه دا بیا بیا لیکل او ویل چي ما خپلي ښځي ته طلاق ورکړی دی که خبر ورکول وي دمخکي طلاق نو یو رجعي طلاق واقع سو په هغه کي په عدت کي دننه رجوع بي له نکاح کیدای سي او وروسته دعدت څخه په نوي نکاح سره رجوع کیدای سي ([2]) او دمیړه په خطونو کي چي کم دوه خطونه دښځي دورور په نوم

([1]) وینکح مبائنته بما دون الثلاث فی العدة وبعدها بالاجماع ومنع غیره فیها لاشتباه النسب لا ینکح مطلقة من نکاح صحیح بها ای بالثلاث حتی یطئها غیره ولو الغیر مراهقا یجامع مثله بنکاح نافذ وتمضی عدة الثانی (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب الرجعة ج۲ ص۷۳۸. ط. س. ج۳ ص۴۰۹) ولوشك اطلق واحدة او اکثر بنی علی الاقل (درمختار) الا ان یستیقن بالاکثر او یکون اکبر ظنه (ردالمحتار باب الصریح ج۲ ص۲۲۳. ط. س. ج۳ ص۲۸۳). ظفیر

([2]) اذا طلق الرجل امراته تطلیقة رجعیة او تطلیقتین فله ان یراجعها فی عدتها رضیت بذلك ام لم ترض کذا فی الهدایه (عالمګیري باب الرجعة ج۱ ص۴۷۰) واذا کان الطلاق بائنا دون الثلاث فله ان یتزوجها فی العدة وبعد انقضائها (ایضا ج۱ ص۴۷۲) لو قال عنت بالثاني الاخبار عن الاول لم یصدق بالقضاء ویصدق فیما بینه وبین الله (عالمګیري ج۱ ص۳۵۵). ظفیر

دي په هغو کي خو طلاق صريح دی چي دهغه حکم هم دغه دی چي کم پورته ليکل سوی دی يعني رجعي طلاق واقع سو او يو خط چي کم دښځي په نامه دی په هغه کي صريح نسته بلکه الفاظ دکنايي ذکردي اوپه دي خط کي مذاکره دطلاق او دغصي اظهار هم نسته نو په دي الفاظو کي به دميړه نيت ته اعتبار وي که يي نيت دطلاق وي نو طلاق بائن واقع سو اوکه يي نيت دطلاق نه وي نو هيڅ هم نسته (۱) نور نو چي په کمو خطونو صريح کي طلاق ليکل سوی دی هغه واقع سو او هغه رجعي دی لکه چي مخکي وليکل سو ه.

دری طلاقه يی ورکړل او بيايی وسانله نو څه حکم دي؟ سوال: (۳۷۱) عبدالله خپلي ښځي ته په يوه مجلس کي ددوو شاهدانو په مخ کي دری ځله طلاق ورکړل او ښځه يي جدا کړه ځو ورځي وروسته عبدالله ذکر سوي ښځه کور ته دننه کړه نو څه حکم دی؟

جواب: په دي صورت کي دعبدالله پرښځه دری طلاقه واقع سوه اوبي له حلالی ددي مطلقي سره دوباره نکاح هم نه سي کولای او همداسي بي له حلالي بي نکاح دا منکوحه گڼل او وطي کول حرام او زنا ده. (۲)

مفتي ته دطلاق په اړوند دپوښتني ضرورت سته اوکه نه؟ سوال: (۳۷۲) مفتي ته دطلاق ورکوونکي يا دمطلقي ښځه ددي پوښتني دکولو څه ضرورت سته اوکه نه چي مثلا طلاق په حالت دحمل کي دی اوکه دحيض يانفاس کي که ميړه په يوه مجلس کي دری طلاقه ورکړي نوڅه حکم دی؟

جواب: دهيڅ پوښتني ضرورت نسته بلکه پوښتنه دی واوري اوچي کم جواب ددي پوښتني وي هغه دي ورکړي ددي پوښتني ضرورت نسته ځکه چي په دي ټولو حالتونو کي طلاق واقع کيږي اوپه يوه مجلس کي درې طلاقه هم واقع کيږي.

په نشه کي په طلاق ورکولو سره طلاق واقع کيږي: سوال: (۳۷۳) که په حالت دنشي يا غصي کي په يوه مجلس کي دری طلاقه ورکړي نو طلاق به واقع سي او که نه؟

جواب: واقع به سي.

حامله اوحائضه هم طلاقيږي: سوال: (۳۷۴) که حاملي او حائضي ښځي ته په يوه مجلس کي دری طلاقه ورکړی نو واقع کيږي اوکه نه؟

---

(۱) لايقع بها ای الکنايات الطلاق الا بالنية او بدلالة الحال (عالمگيري باب الکنايات ج۱ ص۳۷۴. ط ماجدية ج۱ ص۳۷۴). ظفير

(۲) وان کان الطلاق ثلاثا فی الحرة وثنتين فی الامة لم تحل له حتی تنکح زوجا غيره نکاحا صحيحا ويدخل بها ثم يطلقها او يموت عنها (عالمگيري باب الرجعة ج۱ ص۲۳۷. ط. ماجديه ج۱ ص۴۷۳). ظفير

جواب: واقع کيږي واضحه دی وي چي حاملي يا حائضي يا نفاس لرونکي ښځي ته که په يوه مجلس کي دری طلاقه ورکړل سي نو دری سره طلاقه واقع کيږي خو حائضي يا نفاس لرونکي ته دری طلاقه په يوه ځای ورکول يا يو طلاق ورکول بدعت دی او ميړه ګنهګاريږي خو طلاق واقع کيږي: کما في الدرالمختار والبدعي ثلث متفرقة او ثنتان بمرة او مرتين الخ قال في الشامي قوله ثلث متفرقة وکذا بکلمة واحدة بالاولى الى ان قال وذهب جمهور الصحابة والتابعين ومن بعدهم من ائمة المسلمين ﷺ الى انه يقع ثلث الخ ثم نقل کلام ابن الهمام فراجعه ([1]).

بي له نيته چي ووايي چي ما تاته طلاق درکړی دی نو هم واقع کيږي: **سوال**: (**۳۷۵**) که يو سړی خپلي ښځي ته دری ځله ووايي چي ماتاته طلاق درکړيدی او نيت يي دطلاق ورکولو نه وي په دي صورت کي طلاق واقع سو او که نه؟ که واقع سوی وي نو رجعي واقع سو اوکه مغلظ؟

جواب: په صريح طلاق کي نيت ته حاجت نسته ([2]) چي دری ځله يي طلاق ورکی نو دده ښځه مغلظه سوه بي له حلالي تجديد دنکاح جائز نه دی: صريحه ما لم يستعمل الا فيه ولو بالفارسية کطلقتک وانت طالق ومطلقة (الى قوله) ويقع بها وان لم ينو شيئا اهـ درمختار.

دخوښيني نوم يي واخيستی او ښځي ته يي طلاق ورکی نو څه حکم دی؟ **سوال**: (**۳۷۶**) زيد چي کله دوهمه نکاح کول غوښتل نو ده ته وويل سوه چي مخکي ښځي ته طلاق ورکه زيد دخپلي خوښيني نوم واخستی او وي ويل چي آمني ته طلاق دی نو طلاق واقع سو اوکه نه؟

جواب: طلاق واقع نه سو. ([3])

دان شاء الله سره طلاق واقع کيږي اوکه نه؟ **سوال**: (**۳۷۷**) عمر ديو چا لخوا دزور په وجه خپلي ښځي ته داسي طلاق ورکی چي لفظ دطلاق يي په لوړ آواز سره ووايه او دان شاء الله لفظ يي کرار ووايه ددي دپاره چي زور کوونکی يي وانه وري نو طلاق واقع سو او که نه؟

جواب: واقع نه سو. ([4])

([1]) ان طلقها على مال فقبلت وقع الطلاق ولزمها المال وکان الطلاق بائنا (عالمګيري کشوري ج۲ ص۵۷۹). ظ

([2]) ان کان النشوز من قبل الزوج فلا يحل له اخذ شيء من العوض على الخلع وهذا فى حکم الديانة فان اخذها جاز ذلك فى الحکم ولزم حتى لا تملك استرداده کذا فى البدائع (ايضا ص۵۰۸). ظفير

([3]) لها منعه من الوطي ودواعيه (درمختار) واشار الى انه لا يحل له وطؤها على کره منها ان کان امتناعها لطلب المهر (ردالمحتار ج۲ ص۳۸۸. ط. س. ج۳ ص۱۴۳). ظفير　=

په زورطلاق اخيستل کيږي اوکه نه؟ سوال: (۳۷۸) چي دميړه څخه جبرا طلاق واخيستل سي نو واقع کيږي او که نه؟ او دڼبي داقرار ضرورت سته اوکه نه؟ او صرف نقل کول دطلاق نامې چي دبل لخوا ليکل سويده دوقوع دطلاق لپاره کافي ده اوکه نه؟

جواب: دميړه څخه چي جبرا طلاق واخيستل سي نو طلاق واقع کيږي ([1]) خوکه نقل کول دطلاقنامې چي دبل سړي لخوا ليکل سوي وي چي صرف دخلګو په زور سره بې له ارادې دطلاقه وسي نو طلاق نه واقع کيږي ([2]).

طلاق په عوض دمال کی جائز دی اوکه نه؟ سوال: (۳۷۹) ښځه که ميړه ته مال ورکړي او طلاق ورڅخه واخلي نو جائز دی اوکه نه؟ او عدت به تيروي اوکه نه؟

جواب: بالغ سړي ته که ښځه مال ورکړي او طلاق ورڅخه واخلي نو طلاق واقع کيږي او عدت لازم دی که کوروالی يا خلوت صحيحه سوی وي نو روپۍ اخيستل سړي ته صحيح دی ([3]) خوکه قصور دسړي لخوا وي نو بيا روپۍ اخيستل ده ته صحيح نه دی. ([4])

چي دمهر اداء کولو وس نه وي نوطلاق کيږي اوکه نه؟ سوال: (۳۸۰) چي مهر معجل وي او خلوت صحيحه سوی وي او وروسته ښځه خپل مهر طلب کړي او ميړه ددي داداء کولو وس نلري نو طلاق به واقع وي اوکه نه؟ ښځي ته په دي کي څه اختيار دی؟

جواب: طلاق نه واقع کيږي او ښځي ته صرف دخپل ځان دبندولو اختيار سته ([5]) او طلاق نه واقع کيږي.

چي دطلاق څخه وروسته ووايي که تا ساتم نو خپله مور او خور به ساتم، نوڅه حکم دی؟

سوال: (۳۸۱) زيد خپلي ښځي ته طلاق ورکی اوويي ويل که تا ساتم نو خپله مور اوخور

([4]) وان نوی بانت علی مثل امي وکذا لو حذف لفظ بر او ظهارا او طلاقا صحت نيته ووقع ما نواه لانه کناية قال في البحر واذا نوی به الطلاق کان بائنا (ردالمحتار ج۲ ص۵۲۲. ط. س. ج۳ ص۲۷۰). ظفير

([1]) ان الصريح نوعان صريح رجعي وصريح بائن فالاول ان يکون بحروف الطلاق بعد الدخول حقيقة غير مقرون بعوض ولا بعدد الثلاث لا نصا ولا اشارة ولا موصوفا بصفه تنبئ عن البينونة الخ واما الثاني فبخلافه الخ (ردالمحتار باب الصريح ج۲ ص۵۹۲. ط. س. ج۳ ص۳۵۰). ظفير

([2]) الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب الکنايات ج۲ ص۶۴۲. ط. س. ج۳ ص۳۰۸. ظفير

([3]) ردالمحتار کتاب الطلاق ج۲ ص۵۷۹. ط. س. ج۳ ص۲۳۸. ظفير

([4]) بلوغ الغلام بالاحتلام والاحبال والانزال فإن لم يوجد فيهما شيء فحتی يتم لکل منهما خمس عشرة سنة به يفتی (درمختار) مجتبائي ج۲ ص۱۹۹، درمختار بغير شامي کتاب الحجر ط. س. ج۲ ص۱۹۹ او دشامي سره ط. س. ج۶ ص۱۵۳). ظفير

([5]) لها منعه من الوطی ودواعيه (درمختار) واشار الی انه لا يحل له وطؤها علی کره منها ان کان امتناعها لطلب المهر (ردالمحتار ج۲ ص۳۸۸. ط. س. ج۳ ص۱۴۳). ظفير

په ساتم اوس دا دزید ښځه کیدای سي او که نه؟

جواب: دا په بائن طلاق طلاقه سوه دنکاح تازه کولو ته ضروت دی او څه کفاره نسته. (۱)

طلاق یی ورکی او دوه ځله یی ولاړه سه وویل نوڅه حکم دی؟ **سوال**: (۳۸۲) یوه سړي خپلی ښځي ته دوه ځله وویل ما تاته طلاق درکړی دی ولاړه سه په دې صورت کي کم طلاق واقع سو؟

جواب: په دې صورت کي پردې ښځه دوه بائن طلاقونه واقع سوه. (۲)

بائن طلاق یی ورکی او حرامه سوی یی وویل نو څه حکم دی؟ **سوال**: (۳۸۳) زید خپلي ښځي ته وویل چي ما تاته بائن طلاق درکی او ته پرما حرامه سوي او زه پرتا حرام سوم نو په دې سره کم طلاق واقع کیږي؟

جواب: په دې صورت کي یو بائن طلاق واقع سو: کما فی الدرالمختار قال لا یلحق البائن البائن (۳). فقط

په ژبه یی هم وویل چی طلاق درکړل سو، نو څه حکم دی؟ **سوال**: (۳۸۴) صالحي ته زید مخامخ هیڅ طلاق نه دی ورکړی خو زید په زړه کي اراده وکړه چي قطعي طلاق مي ورکی اوصالحي ته یي هم دا الفاظ وویل چي ما طلاق درکړی دی، څو میاشتي یعني تقریبا یو کال یي همداسي الفاظ ویل نو په داسي صورت کي کم طلاق واقع سو او دده لپاره څه حکم دی؟

جواب: چي کله زید دا الفاظ په ژبه وویل چي ما طلاق درکړی دی اګرچي ده په واقع کي طلاق نه وي ورکړي نو طلاق واقع سو بیا که یي دې ښځي ته ددریو ځلو څخه زیات دا الفاظ ویلي وي نو ښځه مطلقه ثلثه مغلظه سوه او بي له حلالي ددې سره نکاح صحیح نه ده: لو اقر بالطلاق کاذبًا او هازلا وقع قضاءً لادیانة (۴) شامي ج۲ ص۵۸۴).

دخوارلس کلن محتلم هلک طلاق واقع کیږي: **سوال**: (۳۸۵) دڅوارلسو کلو هلك چي احتلام ورته کیږي طلاق یي واقع کیږي او که نه؟

جواب: شرعي مسئله داده چي دنابالغ طلاق نه واقع کیږي او دبالغ دا واقع کیږي نو که

---

(۱) وان نوی بانت علی مثل امي وکذا لو حذف لفظ بر او ظهار او طلاق صحت نیته ووقع ما نواه لانه کنایة قال فی البحر واذا نوی به الطلاق کان بائنا (ردالمحتار ج۲ ص۵۲۲. ط. س. ج۳ ص۵۷۰). ظفیر

(۲) ان الصریح نوعان صریح رجعي وصریح بائن فالاول ان یکون بحروف الطلاق بعد الدخول حقیقة غیر مقرون بعوض ولا بعدد الثلاث لا نصا ولا اشارة ولا موصوفا بصفة تنبئ عن البینونة الخ واما الثاني فبخلافه الخ (ردالمحتار باب الصریح ج۲ ص۵۹۲. ط. س. ج۳ ص۲۵۵). ظفیر

(۳) الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب الکنایات ج۲ ص۶۴۲. ط. س. ج۳ ص۳۰۸. ظفیر

(۴) ردالمحتار کتاب الطلاق ج۲ ص۵۷۹. ط. س. ج۳ ص۲۳۸. ظفیر

هلك محتلم سي او احتلام دده سوی وي او ددي ځخه وروسته دی طلاق ورکړي نوطلاق واقع کيږي شرعاً هلك په محتلم کيدو يا په پنځلس کلن کيدو بالغ ګڼل کيږي. ([1])

په نشه کی يی وويل دطلاق طريقه وښيه طلاق درکوم نو څه حکم دی؟ سوال: (۳۸۲) زيد دنشي په حالت کي دښځي سره جنجال وکی په دي حالت کي يي يو سړی را وغوښتی او ورته وي ويل چي: موږ ته دطلاق ورکولو طريقه را وښيه موږ اوس طلاق ورکوو چي پنځه شپږ ځله يي وويل نو طلاق واقع سو اوکه نه؟

جواب: ظاهره داده چي په ذکر سوي صورت کي صرف دطلاق اراده او وعده کړل سويده نوطلاق واقع نه سو.

طلاق مي ورکی، په دې ويلو سره طلاق واقع سو: سوال: (۳۸۷) يوه سړي خپلي ښځي ته وويل چي طلاق مي درکی نو طلاق واقع سو اوکه نه؟ او ميړه ددي سره نکاح کولای سي او که نه؟

جواب: په پوښتل سوي صورت کي يو رجعي طلاق واقع سو په عده کي دننه ميړه رجوع ورته کولای سي او دعدت دتيريدو ځخه وروسته ميړه نکاح ورسره کولای سي ([2]).

ستا داجازې پرته که مي دچا سره نکاح وکړه او يا مي کړي وه نو پرهغې دری طلاقه دا يی وويل نوځه حکم دی؟ سوال: (۳۸۸) يوه سړي خپلي ښځي ته وويل چي که مي ستا داجازې پرته نکاح وکړه يا مي کړي وه نو پرهغې دری طلاقه نو دشرط ځخه دمخالفت په صورت کي پردوهه منکوحه که مخکي وي اويا که په راتلونکي کي وي طلاق واقع کيږي اوکه نه؟

جواب: په دي صورت کي به دوهمه پخوانۍ يا وروستنۍ منکوحه طلاقه سي: وعلى هذا لو قال كل امرأة اتزوجها بغير اذنك فطالق فطلق امرأته طلاقا بائنا او ثلاثا ثم تزوج بغير اذنها طلقت لانه لم يتقيد يمينه ببقاء النكاح الخ شامي جلد ۳ كتاب الايمان صفحه

([1]) بلوغ الغلام بالاحتلام والاحبال والانزال فان لم يو جد فيهما شيء فحتى يتم لكل منهما خمس عشرة سنة به يفتى (درمختار) مجتبائي ج۲ ص۱۹۹، درمختار بغير دشامي ځخه کتاب الحجر ط. س. ج۲ ص۱۹۹ او دشامي سره ط. س. ج۶ ص۱۵۳. ظفير

([2]) صريحه مالم يستعمل الا فيه ولو بالفارسية كطلقتك وانت طالق ومطلقة الخ ويقع بها اى بهذه الالفاظ وما بمعناها من الصريح (الدرالمختار على هامش ردالمحتار باب الصريح ج۲ ص۵۹۰. ط. س. ج۳ ص۲۴۷) اذا طلق الرجل امرأته تطليقة رجعية فله ان يراجعها فى عدتها رضيت ام لم ترض (عالمگري مصري باب الرجعة ج۱ ص۴۷۰) واذا كان الطلاق بائنا دون الثلاث فله ان يزوجها فى العدة وبعد انقضائها (ايضا ج۱ ص۴۷۲) وتنقطع الرجعة اذا طهرت من الحيض الاخير (الدرالمختار على هامش ردالمحتار باب الرجعة ج۲ ص۷۳۳. ط. س. ج۳ ص۴۰۳). ظفير

۱۳۲. ([1]) فقط

<u>که ستا داجازی پرته تر دوو کلو ډیر وځنډیدم نو تاته دطلاق اچولو اختیار دی دایي وویل نوڅه حکم دی؟</u> سوال: (۳۸۹) میره ښځي ته وویل که زه په پردي وطن کي ستا داجازی بغیر تر دوو کلو زیات پاته سوم نو بیا تاته اختیار دی خپل ځان ته طلاق واچوه نو په دي صورت کي څه حکم دی؟

جواب: په دي صورت کي ښځي ته اختیار دی چي په کم مجلس کي شرط موجود سي چي دا خپل ځان ته طلاق واچوي. ([2])

<u>ښځه وایي طلاق یې راکی او میره انکار کوي نو څه حکم دی؟</u> سوال: (۳۹۰) هندي دزید منکوحي دعوه کړیده چي ماته زید طلاق راکړی دی او زید انکار کوي اوقسم کوي او هنده شاهد راولي نو څه حکم دی؟

جواب: که شاهد عادل وي او دوه وي یعني دوه سړیان یا دوې ښځي او یو سړی ثقه عادلان شاهدي دطلاق ورکوي نو طلاق واقع سو اود میره انکار اوقسم معتبرنه دی. ([3])

<u>ټولو کورنیانو ته مي طلاق دی دایی وویل چا ورته وویل ستا پرښځه هم طلاق واقع سو ده وویل واقع دي سي نوڅه حکم دی؟</u> سوال: (۳۹۱) یوه سړي وویل ما خپلو ټولو کورنیانو ته طلاق ورکی خو دطلاق نیت یي نه وو یوه ورځ خلګو ورته وویل چي ستا پرښځه هم طلاق واقع سو نو ده وویل واقع دي سي اوپه دي وخت کي یي هم نیت دطلاق نه وو نوڅه حکم دی؟

جواب: په دي صورت کي دده پرښځه دری طلاقه واقع سوه داښځه بالکل دنکاح څخه خارجه سوه: قال نساء الدنیا او نساء العالم طوالق لم تطلق امرأته بخلاف نسآء المحلة والدار (درمختار) او په شامي کي دي: ولوقال کل عبد فی هذه الدار او عبیدة فیها عتقوا فی قولهم شامي ([4]) اوپه صریح طلاق کي دنیت ضرورت نسته او دا ویل دمیره چي واقع دي سي هم سبب دوقوع دطلاق دی.

([1]) وګوری ردالمحتار کتاب الایمان مطلب حلفه دال لیعلمه ج۳ ص۱۳۲. ط. س. ج۳ ص۸۴۴ – ۸۴۵. ظفیر

([2]) قال لها اختاري او امرك بیدك ینوي تفویض الطلاق لانهما کنایة فلا یعملان بلانیة او طلقي نفسك فلها ان تطلق في مجلس علمها به مشافهة او اخباراً (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب تفویض الطلاق ج۲ ص۷۵۳. ط. س. ج۳ ص۳۱۵). ظفیر

([3]) ومنها الشهادة بغیر الحدود والقصاص وما یطلق علیه الرجال وشرط فیها شهادة رجلین او رجل وامرأتین سواء کان الحق مالا اوغیر مال کالنکاح والطلاق والعتاق والوکالة والوصایة ونحو ذلك مما لیس بمال (عالمګیري کتاب الشهادة ج۳ ص۳۱۵). ظفیر

([4]) ردالمحتار باب طلاق غیر المدخول بها ج۲ ص۷۳۳. ط. س. ج۳ ص۲۹۴. ظفیر

په لاندي پوښتل سوي صورت کي يو رجعي طلاق دي: **سوال**: (۳۹۲) زيد خپلي ښځي ته وويل تاته طلاق دی او ترقيامته پوري به دي نه ساتم که مي بيا وساتلي نوخپله مور به مي ساتلي وي په دي صورت کي څه حکم دی؟

جواب: په پوښتل سوي صورت کي يو رجعي طلاق واقع سو اوپه عدت کي رجوع کولای سي او دعدت څخه وروسته نکاح کولای سي دلته ظهار نسته ځکه چي په ظهار کي تشبيه کيږي: کما حققة الشامي عن الصيرفية لو قال انت طالق ولا رجعة لي عليك فرجعية (۱).

دطلاق ورکولو شاهدان سته خو ښځه اوميړه انکار کوي نو څه حکم دی: **سوال**: (۳۹۳) يوه سړي خپلي ښځي ته طلاق ورکی او څلور شاهدان سته خو اوس ښځه او ميړه انکار کوي نو طلاق واقع سو او که نه؟

جواب: که دوه شاهدان دطلاق په شاهدانو کي عادل اوثقه وي نو دښځي او ميړه انکار معتبر نه دی طلاق به ثابت وي (۲) (خوکه داثابته سي چي ددوی سره دشاهدانو دنيوي دښمني ده نو بيا ددوی شاهدي نه معتبريږي. ظفير)

تاته طلاق طلاق طلاق يي وويل نو کم طلاق به واقع وي؟ **سوال**: (۳۹۴) يوه سړي دغصي په حالت کي خپلي ښځي ته طلاق په دي الفاظو ورکی چي: تاته طلاق طلاق طلاق نو په دي سره کم طلاق واقع سو؟

جواب: په دي صورت کي دده پرښځه دری طلاقه واقع سوه (۳) اوبي له حلالي څخه داول ميړه لپاره دانه سي حلاليدای قال الله تعالى: فان طلقها (ای ثلاثا) فلا تحل له من بعد حتى تنكح زوجا غيره، الايه (۴) وهكذا فی كتب الفقه. فقط

ښځي وويل چي که ته زما سره ورغيدی نو تاته اوه طلاقه نو څه حکم دی؟ **سوال**: (۳۹۵) يوي ښځي په غصه کي خپل ميړه ته وويل چي که تا زما سره خبري وکړې نو تاته اووه (۷) طلاقه او ما خپل مهر تاته معاف کی نو آيا په دي صورت کي طلاق واقع سو او مهر معاف سو اوکه واجب پاته دی؟

---

(۱) وګوری: ردالمحتار باب الصريح ج۲ ص۵۹۲. ط. س. ج۳ ص۲۵۰. ظفير

(۲) وماسوى ذلك من الحقوق يقبل فيها شهادة رجلين او رجل وامرأتين سواء كان الحق مالا اوغير مال مثل النكاح والطلاق (هدايه كتاب الشهادة ج۳ ص۱۳۸). ظفير

(۳) رجل قال لامراته انت طالق انت طالق انت طالق فقال عنيت بالاولى الطلاق وبالثاني والثالث افهامها صدق ديانة وفى القضاء طلقت ثلاثا متى كرر لفظ الطلاق بحرف الواو او بغير حرف الواو بتعدد الطلاق وان عنى بالثاني الاول لم يصدق فی القضاء (عالمګيري مصري باب الصريح ج۱ ص۳۵۵). ظفير

(۴) سورة البقرة ركوع: ۲۹. ظفير

جواب: په دي صورت کي طلاق واقع نه سو ځکه چي طلاق دمیړه دلوري ورکول کیږي نه دښځي دلوري، نو دښځي دا ویل لغوه دي او دمهر دقرض معافول که یي ترخبرو کولو پوري معلق کړي وي نو باطل دي یعني مهر نه معافیږي په درمختار کي یي یو دهغو شیانو څخه چي په هغو کي تعلیق نسته ابراء من الدین هم شمارلي دی: والابراء عن الدین لانه تملیك من وجه الخ فلا یجوز تعلیقه بالشرط، شامي.

په لاندیني مضمون سره طلاق واقع نه سو: **سوال**: (۳۹٦) یوه سړي دا مضمون دخپلي ښځي په باره کي ولیکی نو طلاق واقع سو اوکه نه؟ (دمحمد عادل دلور شکایت مانور هم اوریدلی دی خبره داده چي زه اوس ددي راوستونکی نه یم او دمهر په باره کي چي څه وي نوهغه به ګورو زما او ددي جوړښت نه کیږي که ددي مور او پلار ددي دنکاح کولو اراده لري نو اجازه ده) میړه اقرار وکی چي دامي په غصه کي لیکلی وو خو نیت مي دطلاق ورکولو نه وو نو څه حکم دی؟

جواب: ددي خط په مضمون سره طلاق نه واقع کیږي ځکه چي میړه دطلاق دنیت څخه انکار کوي اوپه دي الفاظو کي بي له نیت څخه طلاق نه واقع کیږي. ([1])

دمهر په عوض کی یی طلاق ورکی نو کم طلاق واقع سو: **سوال**: (۲۹۷) یوه میړه خپلي ښځي ته په خپله خوښه سره طلاق ورکی اوښځي مهر معاف کی نو کم طلاق واقع سو؟

جواب: طلاق واقع سو که یي دری طلاقه ورکړي وي نو په هرحال کي دا بائنه مغلظه ده اوکه یي دوه ورکړي وي نو بیا که په عوض دمهر کي وي یعني میړه دا ویلي وي چي زه طلاق درکوم اوته مهر معاف کړه او ښځی دا خبره قبوله کړي وي نو بائن طلاق واقع سو چي په هغه کي رجوع صحیح نه ده، اوپه مسئوله صورت کي ظاهره هم داده چي په وجه دطلاق ښځي مهر معاف کی نو په دي صورت کي طلاق بائن واقع سو. ([2])

دښځي په پوهولو یي وویل انت طالق نوڅه حکم دی؟ **سوال**: (۳۹۸) زید خپلي ښځي ته دکتاب الطلاق تعلیم ورکوی په وخت دمثال دحکایت عن الغیر یي انت طالق وویل وروسته ددواړو په زړه کي دوقوع دطلاق شبه پیدا سوه او حال دادی چي نیت دطلاق بالکل نه وو نوزید درجوع لپاره رجعت ووایه وروسته بیا معلومه سوه چي دتعلیم دمسئلي په صورت کي طلاق نه واقع کیږي آیا درجعت دلفظ په اقتضاء سره طلاق واقع

([1]) لا یقع بها ای بالکنایات الطلاق الا بالنیة او بدلالة الحال کذا فی الجوهرة النیرة (عالمګیري مصري باب الکنایات ج۱ ص۳۴۴). ظفیر

([2]) الصریح نوعان صریح رجعي وصریح بائن فالاول ان یکون بحروف الطلاق بعد الدخول حقیقة غیر مقرون بعوض واما الثاني فبخلافه الخ (ردالمحتار باب الصوم ج۲ ص۵۹۲. ط. س. ج۳ ص۲۵۰). ظفیر

سو؟

جواب: په دي صورت کي هيڅ قسم طلاق نه دی واقع سوی او رجوع کول په خپله لغوه دی دطلاق اقتضاء نه کوي.

دنکاح څخه وروسته يې وويل زما دکشر ورور سره ددې نکاح وکړئ نوڅه حکم دی؟ **سوال**:

(۳۹۹) دزيد نکاح دعائشي سره وسوه بيا ده دزينب سره نکاح وکړه او دعائشي قريبانو ته يي وويل چي عائشه زما کشر ورور ته ورکړئ نو دوی دهغي نکاح دعمر سره وکړه اوس عمر مړ سو نو پوښتنه دا ده چي دزيد نکاح دعائشي سره پاته ده او که نه؟ ځکه چي ده ويلي وه چي عمرته يي ورکړئ؟

جواب: صرف په دي اراده چي دخپلي ښځي په نکاح کولو دبل سړي سره راضي سي او ورځ اوتاريخ د نکاح مقرر سي دده ښځه نه طلاقيږي ځکه چي دطلاق لپاره په يوه داسي لفظ تکلم کول ضروري دی چي دلالت پرطلاق کوي صرف نيت اراده او رضاء سبب دطلاق نه ده. قال في ردالمحتار واراد بما اللفظ او ما يقوم مقامه من الكتابة المستبينة او الاشارة المفهومة فلا يقع بالقاء ثلثة احجار اليها اوامرها بحلق شعرها وان اعتقد الالقاء والحلق طلاقا كما قدمناه الخ وفي القنية زوج إمرأته من غيره لم يكن طلاقا ثم رقم ان نوی طلقت الخ درمختار قوله ان نوی طلقت لعل وجهه ان قوله زوجتك امرأتي فلانة يحتمل ان يكون على تقدير ان صح تزويجها منك او تقدير لانها طالق مني فاذا نوی الطلاق تعين الثاني فتطلق (۱)، شامي.

اوظاهره ده چي درواياتو دا اختلاف وروسته دتزويج څخه دی اوپه پوښتل سوي صورت کي تزوج واقع نه سو بلکه صرف اراده يا رضاء يي ده او په دي سره طلاق نه واقع کيږي او دشامي دعبارت څخه داهم واضحه سوه چي په صورت دتزوج کي په نيت دطلاق سره هغه وخت طلاق واقع کيږي چي زوج دا ووايي: زوجتك امرأتي فلانه، يعني ميړه په خپله دخپلي ښځي نکاح دبل سړي سره وکړي او دښځي وکيل سي او ددي له لوري تزويج وکړي نو په دي صورت کي چي دميړه دطرف څخه سويده نو ددي وجهي دا لفظ په کناياتو کي داخل سو او تر نيت پوري موقوف سو او چي کله هيڅ يو داسي لفظ دميړه له لوري نه وي نو بيا هيڅ ډول طلاق نه واقع کيږي نو زيد دا ويل چي زما کشر ورور ته يي ورکړئ دا لفظ موجب دطلاق نه دی ځکه چي ددي مطلب داهم کيدای سي چي کله دا امر پوخ سي زه به دي ته طلاق ورکوم نو په هغه وخت کي به وروسته دعدت څخه نکاح

(۱) ردالمحتار قبيل باب تفويض الطلاق ج۲ ص۲۵۲. ط. س. ج۱ ص۳۱۴. ظفير

وسي په هرحال په دي صورت كي دطلاق دوقوع حكم نه سي كيداى.

په غصه كي طلاق: **سوال**: (۴۰۰) زيد په حالت د غصي كي خپلي ښځي هندي ته درى طلاقه وركړل نو دا طلاق داحنافو په مذهب كي واقع سو اوكه نه؟

جواب: پرهنده درى طلاقه عند الحنفية واقع سوه لكه څنګه چي فقهاوو حالت دغصي په ځينو الفاظو كي دطلاق دوقوع قرينه ګڼلى دى: فى الدرالمختار والكنايات لاتطلق بها الا بالنية او دلالة الحال وهى حالة مذاكرة الطلاق او الغضب الخ ([1]) مصنف حالت دغضب دلالة الحال دطلاق په اراده وګڼي نو ددي تصريح څخه ښكاره سوه چي طلاق دغضب واقع دى او همدارنګه اكثرا دوقوع دطلاق سبب غصه وي نوحالت دغضب دوقوع دطلاق سره منافي نه دى.

دطلاق دپاره دوه شاهدان: **سوال**: (۴۰۱) يوه سړي خپلي ښځي ته وليكل چي كه مهر معاف كړي موږ به طلاق دركړو او دميړه دطلاق ليكلو يو شاهد دى او يو حافظ بيان كوي چي په خط كي طلاق ليكل سوى دي او خط بالكل خراب سوى اومشتبه دى نو په دي صورت كي طلاق واقع سو اوكه نه؟ او دوهمه نكاح ددي ښځي صحيح ده اوكه نه؟

جواب: په دي صورت كي شاهدي دطلاق پوره نه ده ځكه چي دميړه دطلاق ليكلو يو شاهد دى حافظ صاحب خو صرف په خط كي دطلاق دليكني بيان كوي اول خوخط يوداسي شرعي حجت هم نه دى اوبيا داسي خط چي خراب سوى اومشتبه وي بيا په دي خط كي چي څه ولوستل سوه نو دهغو څخه هم دمهر تر معافۍ طلاق معلق كيدل معلوم سوه په هرحال ثبوت دطلاق په دي صورت كي بالكل نسته په شرعي قاعده طلاق واقع نه دى او دوهمه نكاح ددي ښځي صحيح نه ده. ([2])

دا ويل چي ما دخلعي درى طلاقه وركړل: **سوال**: (۴۰۲) زيد خپلي نابالغي مراهقي ښځي ته په طلاق نامه كي دا وليكل چي ما ستاسره نكاح كړي وه خو ستا سره زما دكور څخه بهر كار نه چليږي اوته زما په خدمت كي نه حاضريږي نو ددي وجهي چي ستا پلار مهر معاف كى نو ددي مهر په بدله كي زه تاته خلع درى طلاقه دركوم وروسته ددي څخه يي ددي ښځي دپلار څخه دمهر دمعافى رسيد وليكى او لاسليك يي كى نوپه دي صورت كي دزيد پرښځه طلاق واقع سو اوكه نه؟

جواب: په دي صورت كي دزيد پرښځه طلاق واقع سو: خلع الاب صغيرته بمالها او مهرها طلقت فى الاصح كما لو قبلت هى وهى مميزة ولم يلزم المال لانه تبرع وكذا

[1] ردالمحتار ط. س. ج ۳ ص ۲۹۶. ظفير
[2] ردالمحتار ج۲ ص ۷۸۷. ط. س ج۳ ص۴۵۷. ظفير

الكبيرة الا اذا قبلت فيلزمها المال قوله فی الاصح الخ وقيل لا تطلق لانه معلق بلزوم المال وقد عدم ووجه الاصح انه معلق بقبول الاب وقد وجد بزازيه شامي، قوله ولم يلزم المال ای لا عليها ولا على الاب على قول ابن سلمة وعنه يلزمه وان لم يضمن جامع الفصولين اما اذا ضمنه فلا كلام فی لزومه، شامي. (۱)

دا ویل چی بي له فلاني ښځه به دوهمه نكاح نه كوم كه مي وكړه نو هغې ته دطلاق اختيار دی؟ سوال: (۴۰۳) زيد هندي ته د نكاح كولو په وخت كي په اقرار نامه كي وليكل چي بي له اجازي دموصوفي بانو به دوهمه نكاح نه كوم كه مي وكړه نو موصوفي بانو ته اختيار دی چي زما دطرفه دي دوهمي ښځي ته دری طلاقه وركړي اوس زيد هندي ته بائن طلاق وركړی دی نو په دي وخت كي كه زيد ديوي بلي ښځي سره نكاح وكړي نو هنده هغي ته طلاق وركولای سي او كه نه؟

جواب: هندي ته به اختيار وي چي دزيد دوهمي ښځي ته طلاق وركړي په شامي كتاب الأيمان كي دي: وعلى هذا لو قال لامرأته كل امرأة اتزوجها بغير اذنك فطالق فطلق امرأته طلاقا بائنًا او ثلاثا ثم تزوج بغير اذنها طلقت لانه لم تتقيد يمينه ببقاء النكاح لانها ان تتقيد به لو كانت المرأة تستفيد ولاية الاذن والمنع بعقد النكاح ای بخلاف الزوج فانه يستفيد ولاية الاذن بالعقد الخ. (۲)

دشرائطو په خلاف باندي طلاق؟ سوال: (۴۰۴) زيد په اقرارنامه كي يوڅو شرطونه وليكل او دهغو ښځه وروسته يي وليكل چي كه مي په دي شرطونو كي ديوه ځخه هم خلاف كار وكی نو پرښځه به دريم طلاق واقع وي نو په دي صورت كي څه حكم دی؟ په دی وطن كي ډير خلګ دنكاح څخه مخكي اقرار ليك رجسټر كوي او ددي ښځه وروسته نكاح كوي نو دا شرطونه معتبر دي اوكه نه؟

جواب: په دي صورت كي به دری طلاقه واقع وي ځكه چي دريم طلاق دوه ماقبله غواړي: كما فی الدرالمختار وفی القنيه طلقتك اخر الثلث تطليقات فثلاث وطالق اخر تطليقات فواحدة والفرق دقيق حسن (۳) دافرق علامه شامي بيان كړيدی فراجعه (۴) او په جزاء كي به دا ستقبال لفظ پر وعده محمول نه وي دواده ښځه مخكي اقرار او تحرير

(۱) ردالمحتار ج۲ ص۷۸۲. ط. س. ج۳ ص۴۵۷. ظفير

(۲) ايضا. ظفير

(۳) الدرالمختار على هامش ردالمحتار ج۲ ص۲۲۱. ط. س. ج۳ ص۲۸۱. ظفير

(۴) قوله والفرق دقيق حسن وجه الفرق انه اضاف الآخر الى ثلاث معهودة ومعهوديته موقوفها بخلاف المنكر (ردالمحتار ج۲ ص۲۲۲). ظفير

معتبر نه دی ترڅو چي دنکاح څخه وروسته بیا ددي تحریر اقرار ونه کړي.
طلاق یې ورکی مګر په شمیر کی شک دی نوڅه وکړي؟ سوال: (۴۰۵) زید خپلي ښځي ته دوه دری ځله دطلاق لفظ په غصه کي وواېه خو یاد یي نه دي چي دوه ځله یي وواېه اوکه دری ځله نو په دي باره کي څه حکم دی آیا هغه نکاح صحیح ده اوکه نوي وکړل سي؟

جواب: که غالب ګمان ددریو طلاقو وي نو دری طلاقه به واقع وي اوبي له حلالي زید ددي سره نکاح نه سي کولاي اوکه غالب ګمان ددوو طلاقو وي اویا یي دواړه احتماله برابر وي نو بیا به دوه طلاقه وي چي په هغو کي په عدت کي دننه رجوع صحیح ده او دعدت څخه وروسته بي له حلالي نکاح نوي کولای سي (۱).

داسي وایي چي: طلاق مي ورکړي دی نو څه حکم دی؟ سوال: (۴۰۶) یوه سړي خپله ښځه پریښې ده اوچي څوك ورته ووایي چي ته خپله ښځه ولي نه راولي؟ نو دی په جواب کي وایي چي ماطلاق ورکړی دی اوڅو ځله یي دا جواب ورکی نوپر دي ښځه دری طلاقه واقع سوه او که نه؟

جواب: پردي ښځه طلاق واقع سو که میړه دری ځله یا تر دری ځلو زیات دا کلمه ویلي وي نو دری طلاقه دده پر ښځه واقع سوه اوکه دا ښځه مدخوله وي اویا خلوتِ صحیحة ورسره سوی وي نو عدت په دریو حیضونو سره واجب دی.

چي میړه لیونی سي نوښځه څه وکړي؟ سوال: (۴۰۷) دزید نکاح دهندي سره سوي وه پنځه ویشت کاله وسوه اوس ددولسو کلو راهیسي زید لیونی دی نو په دي صورت کي هنده دزید څخه څنګه جلا کیدی سي زید طلاق نه ورکوي؟

جواب: په درمختار کي دي: ولا یتخیر احد الزوجین بعیب الآخر ولو فاحشًا کمجنون وجذام الخ (۲) نو په دي صورت کي عند الحنفیة تفریق نه سي کیدای او دلیوني طلاق هم نه واقع کیږي.

دري طلاقونه او ددې اړوند احکام او مسائل

دحلالي شرطونه: سوال: (۴۰۸) په حلاله کي څه شرطونه دي؟

جواب: حلاله داده چي داول میړه دطلاق څخه وروسته عدت (دری حیضه) تیرسي بیا دبل سړي سره نکاح وکړي اودویم میړه ددخول څخه وروسته طلاق ورکړي بیادعدت دتیریدو

---

(۱) واذا کان الطلاق بائنا دون الثلاث فله ان یتزوجها فی العدة وبعد انقضائها (عالمګیري باب الرجعة ج۱ ص۴۷۲). ظفیر

(۲) الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب العنین ج۲ ص۸۲۲. ط. س. ج۳ ص۵۰۱. ظفیر

څخه وروسته داول میړه لپاره حلاله سوه. [1]

<u>په حلاله کې جماع شرط ده</u>: سوال: (۴۰۹) صالحه مطلقه ثلاثه ده زید ددي لومړنی میړه داسي ډول نکاح غواړي چي ددي نکاح دبکر سره وسي او هغه بي له جماع لږ ساعت وروسته طلاق ورکړي او هغه يي وهم نه ګوري نو په دي صورت کي جواز لري چي ددي څخه وروسته زید بیرته نکاح ورسره وکړي؟

جواب: صالحي ته که زید دری طلاقه ورکړي وي نو ددویم میړه دوطی پرته يي دزید سره نکاح دوهم ځل جواز نه لري په حلاله کي ددوهم میړه دخول او جماع شرط ده. [2]

<u>په لاندي پوښتل صورت کي څه حکم دي</u>؟ سوال: (۴۱۰) داچي ذکر سوي دي چي که يي دری طلاقه ورکړل نو دري واړه واقع کیږي خوکه يي نیت دتاکید وو نو بیا دیانةً صحیح دي خو قاضي به ددریو حکم کوي دا خبره صحیح ده اوکه نه؟ او "المرأة کالقاضي" صحیح دی اوکه نه؟

جواب: دا مسئله صحیح ده. [3]

<u>خپلي ښځي ته يي وویل یو طلاق، دوه طلاقه، دری طلاقه او لفظ د (تاته) يي ونه ویلی نو څه حکم دي</u>؟ سوال: (۴۱۱) یوه سړي دغصي په حالت کي خپلي ښځي ته صرف دا لفظ (یو طلاق، دوه طلاقه، دری طلاقه) وویلی او دايي ونه ویل چي تاته یو طلاق دوه طلاق دری طلاق درکوم نو په دي صورت کي دده پرښځه دری طلاقه واقع سوه اوکه نه؟ او دحلالي ضرورت به وي اوکه نه؟

جواب: دده پرښځه په دي صورت کي دری طلاقه واقع سوه اوبي له حلالي ددي سره نکاح حرامه ده ځکه چي دقریني څخه دا ظاهره ده چي مراد طلاق ورکول دي هغي ښځي

---

[1] وان کان الطلاق ثلثا فی الحرة لم تحل له حتی تنکح زوجا غیره نکاحا صحیحا ویدخل بها ثم یطلقها او فوت عنها الخ والشرط الایلاج دون الانزال لانه کمال ومبالغة فیه (هدایه باب الرجعة فصل فیما تحل به المطلقة ج۲ ص۳۷۹) واذا طلق الرجل امراته طلاقا بائنا الخ وهي حرة ممن تحیض فعدتها ثلثة اقراء لقوله تعالی: والمطلقات یتربصن بانفسهن ثلثة قروء، (هدایه باب العدة ج۲ ص۴۰۲). ظفیر

[2] وان کان الطلاق ثلثا الخ لم تحل له حتی تنکح زوجا غیره نکاحا صحیحا ویدخل به ثم یطلقها او یموت عنها ولا فرق ذلك بین کون المطلقة مدخولا بها اوغیر مدخول بها ویشترط ان یکون الایلاج موجبا للغسل وهو التقاء الختانین اما الانزال فلیس بشرط للاحلال (عالمګیري مصري باب الرجعة ج۱ ص۴۷۳. ط ماجدیه ج۱ ص۴۷۳). ظفیر

[3] کرر لفظ الطلاق وقع الکل وان نوی التاکید دین (درمختار) بان قال للمدخولة انت طالق انت طالق او قد طلقتك قد طلقتك او انت طالق قد طلقتك او انت طالق وانت طالق قوله وان نوی التاکید دین الخ ای وقع الکل قضاءً واذا قال انت طالق ثم قیل له ما قلت فقال قد طلقتها اوقلت هی طالق فهی طالق واحدة لانه جواب (ردالمحتار للشامي باب طلاق غیر المدخول بها ج۲ ص۲۳۲. ط. س. ج۳ ص۲۹۳). ظفیر

ته چي دکمي سره يي جنګ وو او داظاهره ده چي دچا ښځه وي هغه چي طلاق ورکوي نو دده مراد په ظاهره خپله ښځه وي اوپه شامي کي يي تحقيق کړی دی چي په طلاق کي دصريح اضافت ضرورت نسته. (1)

ښځي ته يي وويل دری طلاقه دي نوڅه حکم دی؟ سوال: (۴۱۲) يوه سړي خپلي ښځي ته وويل: تاته دری طلاقه دي، يوه ډله وايي چي دری طلاقه واقع سوه او دويمه ډله وايي چي دا طلاق معلق دی نو په دي صورت کي څه حکم دی؟

جواب: په دي صورت کي دده پرښځه دری طلاقه واقع سوه (2) او بي له حلالي ددي سره دوباره نکاح دميړه صحيح نه ده کما قال الله تعالی: فان طلقها فلا تحل له من بعد حتی تنکح زوجا غيره، (3) او دادي واضحه وي چي دا صورت دتعليق نه دی بلکه دا تنجيز دی يعني دده پرښځه فی الحال دری طلاقه واقع سوه ځکه چي بالکل په دي کي تعليق نسته او نه په دي کي دتعليق کمه قرينه سته.

په يوه مجلس کی يی دری طلاق ورکړل او نيت يی ديوه وو نوڅه حکم دی؟ سوال: (۴۱۳) په يوه مجلس کي يې دری طلاقه ورکړل او نيت يې ديوه کوی او دوه دتاکيد په غرض سره ويل څنګه دي په دي سره به يو واقع وي او که دری؟

جواب: په يوه مجلس کي په دری طلاقه ورکولو سره دری طلاقه واقع کيږي، او دتاکيد نيت ته به قاضي اعتبار نه ورکوي (4) او ښځه به يي هم نه مني دری طلاقه به يې ګڼي: والمرأة کالقاضي (5) دا دفقهي په کتابونو کي مصرح دي.

نالوستي وويل تاته ثلاثا يو طلاق می درکی، او نيت يی ديوه وو نوڅه حکم دی؟ سوال: (۴۱۴) يوه سړی چي امي محض دی دغضب او دطلاق دمذاکري په حالت کي يي خپلي ښځي ته وويل چي تاته مي ثلاثاً يو طلاق درکی اوس دا سړی ددريو طلاقو څخه منکر

(1) ولا يلزم کون الاضافة صريحة فی کلامه لما فی الجر لو قال طلاق فقيل له من عنيت فقال امراتي طلقت امراته الخ ويؤيده ما فی البحر لوقال امرأة طالق او قال طلقت امرأة ثلاثا او قال لم اعن امرأتي يصدق اه يفهم منه انه لو لم يقل ذلك تطلق امراته لان العادة ان من له امرأة انما يحلف بطلاقها لا بطلاق غيرها (ردالمحتار کتاب الطلاق باب الصريح ج۲ ص۵۹۰ - ۵۹۱. ط. س. ج۳ ص۲۴۱). ظفير

(2) وطلاق البدعة ان يطلقها بکلمة واحدة اوثلثا فی طهر واحدة فاذا فعل ذلك وقع الطلاق وکان عاصيا (هدايه کتاب الطلاق ج۲ ص۳۳۴). ظفير

(3) سورة البقره رکوع : ۲۹. ظفير

(4) کرر لفظ الطلاق وقع الکل وان نوی التاکيد دين (درمختار) ای وقع الکل قضاءاً (ردالمحتار باب طلاق غير المدخول بها ج۲ ص۷۳۲. ط. س. ج۳ ص۲۳۹). ظفير

(5) ايضا باب الصريح ج۲ ص۵۹۳. ط. س. ج۳ ص۲۴۸. ظفير

اوپه یوه طلاق مقر دی اووايي چي زه په معنی دثلاثه نه پوهیدم او زما نیت دیوه طلاق وو نو په دي صورت کي به دده پرښځه یوطلاق وي اوکه دری؟

جواب: په دي صورت کي دده پرښځه دری طلاقه واقع سوه اوپه صریح طلاق کي دنیت او دمعنی دفهم ضرورت نسته: فیه ان الصریح لفظ الطلاق لا لفظ الثلاثة لمن لا یعرف العربية ([1]). محمّد شفیع عفی عنه.

په لاندي پوښتل سوي صورت کی کم طلاق واقع سو: سوال: (۴۱۵) زید خپلي مدخولي ښځي ته وویل تاته مي طلاق درکی طلاق مي درکی لس روپی دمهر به سبا تاته درکړم او ته مي پرخپل ځان حرامه کړي نو په دي صورت کي کم طلاق واقع کیږي، یو رجعي او که دری؟

جواب: قال فی الدرالمختار والبائن یلحق الصریح الصریح الخ ([2]) نو په ذکر سوي صورت کي قضاءًا دده پرښځه دری طلاقه واقع سوه.

اول یې بائن طلاق ورکی بیایی په عدت کي دری ورکړل، نو کم طلاق واقع سو: سوال: (۴۱۶) زید خپله ښځه په بائن طلاق حرامه کړه څو ورځي وروسته یي په دویم ځل په دریو طلاقو پرخپل ځان حرامه وګرځوله شرعًا دزید پرښځه دری طلاقه بیل واقع سوه؟ اوکه دبائن طلاق سره؟

جواب: په دي صورت کي ښځه مطلقه ثلثه سوه اوپه دری طلاقو بیله وګرځیده: قال فی الدرالمختار الصریح یلحق الصریح ویلحق البائن بشرط العدة الخ ([3]) وفی ردالمحتار فاذا ابان امرأته ثم طلقها ثلاثا فی العدة وقع الخ ([4]).

ددریو طلاقو دورکولو څخه وروسته میړه انکار کوي حال دادی چي دری شاهدان سته نو څه حکم دی؟ سوال: (۴۱۷) زید خپله ښځه پرخپل کور باندي خوشحاله نه ساتله نو ددي وجه څخه ښځه خفه سوه او دخپل ماما کور ته ولاړه زید هلته ورغی اوخپلي ښځي ته یي دری طلاقه ورکړه او بیا خپل کورته راغی اوس وايي چي ما طلاق نه دی ورکړی اوهلته دری سړي برابر شاهدي ورکوي چي دری طلاقه یي ورکړه نو دده پرښځه طلاق واقع سو او که نه؟ شرعًا په دي کي څه حکم دی؟

([1]) دمفتی شفیع صاحب دتتمه لګولو مقصد دا دي چي کله دي په معنی دلفظ دثلاثه نه پوهیدی نو یو طلاق واقع سو دصراحت بحث دلفظ دطلاق سره مناسب دی دلفظ دثلاثه سره نه دي مناسب بیا داهم حقیقت دی چي دثلاثه دلفظ سره دیوه طلاق لفظ هم دی نو یو طلاق واقع کیدل په کار دي. والله اعلم. ظفیر

([2]) الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب الکنایات ج۲ ص ۲۴۵. ط. س. ج ۳ ص۳۵۶. ظفیر

([3]) ایضا ط. س. ج۳ ص۳۰۶. ظفیر

([4]) ردالمحتار باب الکنایات ج۲ ص۲۴۶. ط. س. ج۳ ص۳۰۷. ظفیر

جواب: دده پرښځه دپوښتونکي دبيان موافق درې طلاقه واقع سوه (۱) په دي صورت کي دا ښځه بي له حلالي داول ميړه دپاره نه سي حلاليداى.

په لاندينى صورت کى څو طلاقه واقع سوه؟ **سوال:** (۴۱۸) يوه سړي خپلي منکوحي ته دا وويل تاته يو بائن طلاق دى ددي څخه وروسته يي ديته وويل تاته درې بائن طلاقونه دي اويا يي دا وويل چي تاته دوه بائن طلاقونه دي او ددي څخه وروسته يي وويل تاته درې طلاقه دي نو په دي صورت کي به درې طلاق واقع وى او که نه؟ که څوك داسي ووايي تاته دوه بائن طلاقه دي اوبيا وروسته دنکاح څخه يو طلاق رجعي ورکړي نو په دي صورت کي به درې طلاقه واقع وي اوکه څه بل صورت به وي؟ بائن او رجعي طلاقونه چي سره يوځاى سي درى ورڅخه جوړيږي اوکه به يو بائن طلاق وي يا به دوه بائن طلاقونه وي دنکاح څخه وروسته ددريو طلاقونو خاوند کيدى سي اوکه نه؟

جواب: په درمختار کي ويلي دي: وكل فرقة هى طالق يقع الطلاق فى عدتها الخ (۲) فروع انما يلحق الطلاق لمعتدة الطلاق الخ وفيه ايضا (۳) وفى الكنايات الصريح يلحق الصريح ويلحق البائن بشرط العدة الخ (۴)، ددي عبارتونو څخه واضحه سوه چي دمطلقي په عدت کي که دويم يا دريم طلاق ورکړل سي نو هغه واقع کيږي او همدارنګه په درمختار کي دي: والزوج الثاني يهدم بالدخول فلو لم يدخل لم يهدم اتفاقا، قنيه ما دون الثلاث ايضا اى كما يهدم الثلاث (۵) ددي څخه څرګنده سوه چي که دمطلقي سره بي ددويم ميړه څخه اول ميړه دوباره نکاح وکړه نو مخکني طلاقونه به منهدم نه وي دواړه به يوځاى سي او درى طلاقه به واقع سي اودا ښځه به مطلقه ثلاثه سي.

په حلاله کى يې دوطى څخه وروسته فورا طلاق ورکى، نو دعدت په تيريدو سره دمخکى ميړه سره نکاح کولاى سى اوکه نه؟ **سوال:** (۴۱۹) مطلقه ثلاثه چي دعدت دتيريدو څخه وروسته ديو بل سړي سره نکاح وکړي او دنکاح وروسته هغه دويم ميړه ورسره وطى وکړي ددي څخه وروسته دهغه څخه طلاق واخلي نو دعدت څخه وروسته داول ميړه سره نکاح کولاى سي او که په هغه څه چي په فتاوى رشيديه کي ليکلي دى عمل ضروري دى هغه دادى چي بيا دوهم ميړه ددي سره وطى وکړي او دوطى څخه وروسته يي په

---

(۱) ردالمحتار باب الكنايات ج۲ ص۷۵۱. ط. س. ج۳ ص۳۱۳. ظفير

(۲) ايضا ج۲ ص۷۵۲. ط. س. ج۳ ص۳۱۳. ظفير

(۳) الدرالمختار على هامش ردالمحتار باب الكنايات ج۲ ص۷۴۵. ط. س. ج۳ ص۳۰۷. ظفير

(۴) ايضا. ظفير

(۵) الدرالمختار على هامش ردالمحتار باب الرجعة ج۲ ص۷۴۲. ط. س. ج۳ ص۴۱۸. ظفير

خپله نکاح کي وساتي چي کله دیته دری حیضه راسي نو په دغه وخت کي دیته طلاق ورکړي او وروسته دطلاق څخه ددي عدت پوره سي اوکه په دي موده کي حامله سوه نو وضع دحمل به وي کني چي دری حیضه تیرسي نو په دغه وخت کي داول میړه سره نکاح کولای سي اوکه په دي کي یوه خبره هم کمه وي نو هیڅ کله به نکاح نه وي موجوده؟

جواب: ددویم میړه وطی دحلالي لپاره ضروري دي خو چي په کم طهر کي وطی سوي وي په هغه کي طلاق ورکول بدعت او مکروه دي نو ددي وجهي څخه دویم میړه لره فورا یا په دوو دریو ورځو کي طلاق ورکول نه ښايي که نه نو ارتکاب دبدعت او دکراهت به لازم سي او که دویم میړه دوطي څخه وروسته سمدستي یا دوه دری ورځي وروسته طلاق ورکړي نو طلاق واقع کیږي اګر که بد عت به وي او وروسته دعدت څخه به داښځه داول میړه لپاره حلاله سي په در مختار کي دي: والبدعي ثلاث متفرقة او ثنتان بمرة اومرتين فی طهر واحد لا رجعة فيه او واحدة فی طهر وطئت فيه الخ (۱) خو لفظ دفی طهر وطئت فيه، صرف ددي مقتضي دی چي په کم طهر کي وطي سوي وي په هغه کي طلاق ورنه کړل سي نو که ددي طهر څخه وروسته دیوه حیض دراتلو شاته بیا په دویم طهر کي چي په هغه کي وطی نه وي سوي طلاق ورکړي نو ظاهرا دا طلاق به بدعت نه وي ددي وجهي په فتاوی رشیدیه کي چي یې ددریو حیضونو دپوره کیدو څخه وروسته طلاق لیکلی دی هغه داحتیاط او اولویت لپاره دی.

<u>خپلي ښځي ته یی وویل دا ښځه پرما دری شرطه طلاق یو ځل دی نوڅه حکم دی؟</u> سوال:

(۴۲۰) یوه سړي دغصي په حالت کي خپلي ښځي ته داسي وویل چي دا ښځه پرما دری شرطه طلاق یوځل دی داسي یي وویل او په عدت کي یي زباني رجوع هم وکړه ایا بي له نکاح او حلالي دا ښځه ده لره جائز کیدای سي اوکه نه؟

جواب: په دي صورت کي دده پرښځه دری طلاقه واقع او دا ښځه مطلقه ثلاثه مغلظه بائنه سوه بي له حلالي ددي سره اول میړه دوباره نکاح نه سي کولای او رجوع نه صحیح کیږي ځکه چي په یوځل دری طلاقه اچولو سره هم دری طلاق واقع کیږي: قال في الدرالمختار والبدعی ثلث متفرقة قال فی الشامي وكذا بكلمة واحدة بالاولى الخ وذهب جمهور الصحابة والتابعين ومن بعدهم من ائمة المسلمين الى انه يقع ثلث الخ (۲).

<u>په لاندي پوښتل سوي صورت کي حکم دی؟</u> سوال: (۴۲۱) دموسی میا دوې ښځي دي او دواړي په خپل مینځ کي جګړي کوي محلي والا موسی میا ته وویل ته دواړو ښځو ته

(۱) الدرالمختار على هامش ردالمحتار باب الطلاق ج۲ ص۵۷۲. ط. س. ج۳ ص۲۳۲. ظفير

(۲) ردالمحتار كتاب الطلاق ج۲ ص۵۷۲. ط. س. ج۳ ص۲۳۲ . ظفير

طلاق ورکړه په دغه وخت کي موسی میا خاموشي اختیار کړه نو چي کله دي خلګو ډیر زور وکی نو بیا موسی میا وویل یو طلاق دوه طلاقه دری طلاقه نسبت دطلاق یي یوي ښځي ته هم ونکی دذکر سویو الفاظو داوریدو اته ۸ شاهدان موجود دي دوه شاهدان وايي یو طلاق دوه طلاقه دری طلاقه مي ورکړل یي ویلي دي او په پاتي نورو شپږو شاهدانو کي یوه دموسی میا څخه پوښتنه وکړه چي تا یوي ته ورکی اوکه دواړو ته موسی میا ورته وویل دواړو ته په دغه وخت کي یي هم بي له نسبت څخه ذکر سوي الفاظ وویل نو په دي صورت کي دموسی میا پردواړو ښځو طلاق واقع سو اوکه نه څه حکم دی؟

جواب: په دي صورت کي که ده دا الفاظ چي دواړو ته مي طلاق ورکی دیوه شاهد په پوښتنه کولو باندي چي تا یوي ته ورکی او که دواړو ته، لږ تر لږه ددوو عادلو شاهدانو په مخ کي ویلي وي نو دده دواړي ښځي مطلقه ثلثه سوي ځکه چي اول یي یو طلاق دوه طلاقه دری طلاقه بي له اضافته صریح ویلي وو بیايي په شاهدانو کي دځینو دپوښتني په جواب کي وویل: دواړته مي ورکی نوکه په دغه وخت کي هم همدغه شپږ شاهدان یا لږ تر لږه دوه شاهدان په دوي کي موجود وه نو دواړي ښځي دموسی میا طلاقي سوي ځکه چي اول خو دخلګو دا ویل چي دواړو ښځو ته طلاق ورکړه په مقابل کي د میړه دا ویل چي یو طلاق الخ دا صفا قرینه ده چي ده خپلو دواړو ښځو ته طلاق ورکی او دویم داچي کله یې دشاهدانو په مخ کي تصریح وکړه چي زما دواړه مراد دي نو اوس خو دطلاقو په وقوع کي هیڅ تردد هم نسته په شامي کي دي: ولا یلزم کون الاضافة صریحة کلامه کما فی البحر لو قال طالق فقیل له من عنیت فقال امرأتي طلقت امرأته الی آخر ما حقق وفصل. (۱)

<u>په کوچنیوالي کي یی نکاح سویده دبالغیدو څخه وروسته یی بیا نکاح وکړه دښځي په دوکه ورکولو سره که میړه دمخکی نکاح طلاق ورکړي نو څه حکم به وي؟</u> سوال: (۴۲۱) دیوي ښځي نکاح ددي پلار په کوچنیوالي کي کړي وه دبلوغ څخه وروسته یي بیا تجدید دنکاح وکی اوس دخپل مینځي اختلاف په سبب ښځي میړه ته وویل چي زما ستا سره دوه ځله نکاح سویده دیوې نکاح ماته درې طلاقه راکړه او یوه نکاح پریږده میړه چي بي علمه وو په دي خبره دوکه سو او طلاق یي ورکی اوس داښځه بل ځای نکاح کولای سي او که نه؟

(۱) ردالمحتار باب الصریح ج۲ ص۵۹۰، ط. س. ج۳ ص۲۴۸. ظفیر

جواب: په دي صورت کي دده پربنځه دری طلاقه واقع سوه لکه څنګه چي په ټولونصونو کي ثابته ده قال الله تعالی: فان طلقها فلا تحل له من بعد حتی تنکح زوجا غیره، (1) نو چي مخکي نکاح سویده نو تجدید دنکاح لغوه دی او ددي سره دوهم عقد سوی نه دی اوکه سوی هم وي نومنکوحه یوه ده پردي دری طلاقه واقع سوه وهو ظاهر.

طلاق درکوم یې دری واره ولیکل نو څه حکم دی؟ سوال: (۴۲۲) زید خپلي ښځي ته خط ولیکی او دا الفاظ یي هم ولیکل چي اوس زه په ربنتیا دزړه څخه طلاق درکوم طلاق درکوم طلاق درکوم نو په دي صورت کي دده ښځه طلاقه سوه اوکه نه؟

جواب: په دي صورت کي دده پربنځه دری طلاقه واقع سوه بي له حلالي دا مطلقه میړه لپاره نه حلالیږي، هکذا في کتب الفقه (2).

ددوو طلاقو څخه وروسته یې رجوع کړي وه ددریم طلاق په مطالبه کی یی وویل: څه دامي هم درکی، نو څه حکم دی؟ سوال: (۳۲۳) زید پرزینب دپاك لمني او دښه طبیعت لرونکي ښځي خیال وکی او ددي سره یي نکاح وکړه څه موده وروسته یي دزینب پریوه نامناسب حرکت باندي داصلاح په نیت یوطلاق ورکی وروسته بیا زینب ددوو طلاقو طالبه سوه او ډیر اصرار یي وکی زید مجبور سو او دویم طلاق یي هم ورکی بیا زینب په ډیر اصرار سره ددریو طلاقو مطالبه وکړه زید دځو دوستانو سره دمشوري کولو څخه وروسته زینب ته رجوع وکړه او دشریعت دتعلیم موافق یي هڅه کوله چي طبعیت یي صحیح سي خو ناکام سو او زینب همیشه طالبه د طلاقو وه زید خیال وکی چي اوس په دریم ځل خو به زینب دهمیشه لپاره بیله سي او بي له ارادي دطلاق څخه داسي یو لفظ باید وویل سي چي په هغه سره تعلق قطع سي اوطلاق واقع نه سي او دزینب ګمان سي چي تعلق ختم سو، په دي نیت یي د زینب مشر زوی ته وویل ته دي خپله مور بل کورته بوزه کني زه به تا پولیسو ته حوا له کړم زینب وویل چي تر څو تاماته طلاق نه وي راکړی زه به نه ځم زید وویل څه هغه مي هم درکی نه یي دزینب نوم واخیستی اونه یي لفظ دطلاق وویلی او نه یي نیت دطلاق وو، نوڅه حکم دی؟

جواب: دصریح لفظ لپاره دنیت ضرورت نسته او ظاهره ده چي زینب ددریم طلاق هم طلب کړی دی په جواب کي دزید دا ویل چي څه هغه مي هم درکی پرزینب باندي موجب

---

(1) سورة البقرة : ۲۹۰. ظفیر

(2) وان کان الطلاق ثلثا الخ لم تحل له حتی تنکح زوجا غیره نکاحا صحیحا ویدخل بها ثم یطلقها او یموت عنها الخ والشرط الایلاج دون الانزال لانه کمال ومبالغة فیه (هدایه باب الرجعة فصل فیما تحل به المطلقة ج۲ ص۳۷۹). ظفیر

دثالث طلاق دی اوپه داسي مواقعو کي قرينه شاهده ده چي مراد زينب ته طلاق ورکول دي: وفي الشامي ولايلزم كون الاضافة صريحة في كلامه [1] البته که زيد داسي ووايي چي په لفظ د: څه هغه مي هم درکی، کي يې اشاره طلاق ته نه وه کړي او مشار اليه زماپه ذهن کي يوبل شی وو نو داويل دده ديانتا کيدای سي او قضاءً به نه منل کيږي اوښځه هم په شان دقاضي ده كما صرح في الدرالمختار ان المرأة كالقاضي [2] نو ښځه به يي هم نه مني او خپل ځان به مطلقه ثلثه ګڼي.

مور او پلار غصه سوه له همدي امله دښځي خاوند هلک وويل طلاق طلاق طلاق نوڅه حکم دي؟ سوال: (۴۲۴) زيد دخپل مور اوپلار سره دغصي په حالت کي چي دده مور اوپلار ده ته او دده ښځي ته غصه وه دا الفاظ وويل طلاق طلاق طلاق درې ځله يعني دا لفظ يي چاته منسوب نه کی او دايي وويل زه به چيري ولاړ سم خير به غواړم نو ايا دا طلاق وسو اوکه نه؟

جواب: موافق دتصريح دشامي په دي صورت کي دزيد ښځه مطلقه ثلثه سوه: ويؤيده مافي البحر لو قال إمرأة طالق او قال طلقت إمرأة ثلاثا وقال لم اعن امرأتي يصدق او يفهم منه ان لو لم يقل ذلك تطلق امرأته لان العادة ان من له امرأة انما يحلف بطلاقها لا بطلاق غيرها [3] ج۲ ص۴۳۰).

زيد وويل عظني ته يو دوه درې طلاقه، نو څه حکم دي؟ سوال: (۴۲۵) دزيد دښځي او دمور تر مينځ سخت جنګ وسو دزيد پلار زيد ه وويل ته او ستا ښځه دي زموږ دکور څخه ووزئ په دي خبره زيد غصه سو اوويي ويل چي دنن څخه عظني ته يو دوه درې طلاقه. عظني مخفف دعظيم النساء دی دهغي مور او پلار به دي ته په وړوکوالي کي هم په دي نامه ويل خو دزيد دمحلي دوه درې سړي دا هم وايي چي زيد ددي ذکر سوي واقعي وروسته ددوي په مخ کي دا اقرار کړی دی چي ما دا ويلي دي چي دنن ورځي څخه عظيم النساء ته يو دوه درې طلاقه ورکوم نو په دي صورت کي څه حکم دی؟

جواب: په دي صورت کي دزيد پرښځه درې طلاقه واقع سوه ځکه که ده عظني ته ويلي وي او طلاق يي ورکړی دی خو بيايي هم مراد ورڅخه عظيم النساء ده او که يي عظيم النساء ويلی وي او طلاق يي ورکړی وي نو بيا خو دطلاق وقوع ښکاره ده په هرحال په دواړو صورتو کي درې طلاقه دده پرښځه باندي واقع دي كما هو ظاهر. [4]

---

(۱) ردالمحتار کتاب الطلاق باب الصريح ج۲ ص۵۹۰. ط. س. ج۳ ص۲۴۸). ظفير

(۲) ايضا ج۲ ص۵۹۴. ط. س. ج۳ ص۲۵۱. ظفير

(۳) ردالمحتار باب الصريح ج۲ ص۵۹۵. ط. س. ج۳ ص۲۴۸. ظفير =

<u>ښځې ته يې وويل ولاړه سه درې طلاقه نو څه حکم دی؟</u> سوال: (۴۲۶) يوه سړي دغصې په حالت کې دخپلې ښځې په مخ کې داسې وويل ولاړه سه درې طلاقه دې نوآيا حرمت مغلظه واقع سو؟ شبهه داده چې (درې طلاقه دې) په دې کلمه کې صريح نسبت نسته؟

جواب: په دې صورت کې درې طلاقه دده پرښځه واقع سوه او په دې سره حرمت مغلظه ثابت سو ځکه چې ظاهره ده چې په ولاړه سه کلمه کې خطاب ښځې ته دی نو ددريو طلاقو څخه مراد هم ديته طلاق ورکول دي، اوشامي تصريح کړيده چې دصريح اضافت ضرورت نسته بلکه په قرائنو سره هم اضافت اونسبت ښځې ته کيږي (۱).

<u>دجنګ په حالت کې يې ښځې ته وويل تاته اووه طلاقه، اوس وايي چې اوه مې ويلي دي خو طلاق مې نه دي ويلي خو شاهد سته، نو څه حکم دی؟</u> سوال: (۴۲۷) زيد خپلې ښځې ته دجنګ په حالت کې داسې وويل چې تاته طلاق دی بيا چې کله چا دده خوله بنده کړه نو په يو دوې دقيقې کې بيا زيد داسې وويل تاته اووه طلاقه دي اوريدونکي ځوسړي ددې خبرې شاهدان دي خو زيد دا وايي چې ماصرف دومره ويلي دي چې تاته اوه او دطلاق لفظ مې نه دی ويلی زيد تصريح کړيده چې د(تا) دلفظ يعني دخطاب دضمير څخه مې مراد زما خپله ښځه ده بيايې دوه درې ورځې وروسته ددې تصريح په خلاف وينا وکړه دزيد دويم بيان چې دلومړنيو ځرګندونو څخه مخالف دی داعتبار وړدی او که نه؟

جواب: دزيد دويم بيان داول اقرار په خلاف معتبر نه دی او دده پرښځه درې طلاقه واقع سوه ځکه چې داوو طلاقو دلفظ معتبر شاهد موجود دی نو دزيد ښځه مطلقه ثلاثه سوه اوبې له حلالې داول ميړه نکاح ددې سره نه سي کيدای: كما قال الله تعالى: فان طلقها فلا تحل له من بعد حتى تنكح زوجا غيره، (۲) او دفقهي په کتابونو کې تصريح ده چې يوسړي خپلې ښځې ته تر دريو طلاقو زيات ورکړې نو درې طلاقه دده پرښځه واقع کيږي او باقي لغوه دي (۳).

<u>ويې ويل الله ﷻ مړ سو ددې څخه مخکې يې ښځې ته طلاق ورکړې وو نو څه حکم دی؟</u>

سوال: (۴۲۸) يوه سړي خپلې ښځې ته په يوه خبره طلاق ورکی ميړه ته دطلاق څخه

---

(۴) قال لزوجته غير المدخول بها انت طالق ثلاثا الخ وقعن الخ وان فرق الخ بانت بالاولى الخ لم تقع الثانية بخلاف الموطوئة حيث يقع الكل وعم التفريق (الدرالمختار على هامش ردالمحتار باب طلاق المرء غير المدخول بها ج۲ ص۲۲۴ – ۲۲۲. ط. س ج۳ ص۲۸۴). ظفير

(۱) ولا يلزم كون الاضافة صريحة فى كلامه (ردالمحتار باب الصريح ج۲ ص۵۹۰. ط. س. ج۳ ص۲۴۸). ظفير

(۲) سورة البقرة ركوع ۲۹. ظفير

(۳) فطلاق حرة ثلث وطلاق امة ثنتان مطلقا (الدرالمختار على هامش ردالمحتار كتاب الطلاق ج۲ ص۵۸۸. ط. س. ج۳ ص۲۴۲). ظفير

وروسته خلگو وویل ته لمونځ نه کوي لويه دشرم خبره ده ستا ښځه اوخوابني او خسر لمونځ ګذار دي ميږه جواب ورکی چاته لمونځ وکم؟ الله ﷻ مړ سو (نعوذ بالله) نو شرعًا څه حکم دی؟

جواب: په دي صورت کي دده پرښځه دری طلاقه واقع سوه اوسړي ددي کلماتو په وجه چي دالله ﷻ په شان کي ويلي دي کافر اومرتد سو بيا دی اسلام راوړي او وروسته داسلام څخه هم دده ښځه مطلقه ثلاثه ده اوبي له حلالي يي نه سي کولای. (۱)

په يوه مجلس کی ددريو طلاقو څخه وروسته په دوهم مسلک باندي عمل کولای سي اوکه نه؟ **سوال**: (۴۲۹) زيد خپلي موطوئي ښځي ته په يوه مجلس کي دری بائن طلاقونه په يوه لفظ په دي طريقه سره ورکړه چي ما خپلي ښځي ته دری بائن طلاقونه ورکړيدی نو په دي صورت کي موافق دمذهب دابن مقاتل: انه اذا ارسل لايقع شيئا، يا موافق دمذهب دطاؤس: اذا ارسل لم يقع الا واحدة، يا موافق دمذهب دشافعيانو حنفي لره عمل کول جائز دي اوکه نه؟

جواب: په دي صورت کي زيد ته خپله مطلقه ثلاثه ښځه بي له حلالي جائزه نه ده کما هو مذهب جمهور الصحابة والتابعين والأئمة المجتهدين وحققه فی الفتح بما لامزيد عليه کما نقله الشامي فی کتاب الطلاق (۲) نو زيد ته په دي صورت کي په هغه قول چي دمذهب څخه خارج وي عمل کول صحيح نه دي.

ددريو طلاقو څخه وروسته نکاح صحيح نه ده؟ **سوال**: (۴۳۰) يوه سړي خپلي ښځي ته دری طلاقه ورکړل اوپر خپل ځان يي حرامه کړه مهر يي هم ورکی او دخلګو په مخ کي يي بيان هم وکی چي خپلي ښځي ته مي طلاق ورکړی دی او دکور څخه مي ايستلی ده اوس دي سړی دپنځو شپږو مياشتو څخه وروسته دهغي ښځي سره بيا نکاح وکړه نو آيا دا نکاح صحيح ده او که نه؟ او دناکح او نورو ګډو کسانو په هکله څه حکم دی؟

جواب: ددريو طلاقو څخه وروسته ددي مطلقي سره نکاح کول قطعًا حرام دي: قال الله تعالی: فلا تحل له من بعد حتی تنکح زوجا غيره، الايه (۳) نو په پوښتل سوي صورت

(۱) لا ينکح مطلقة من نکاح صحيح نافذ بها ای بالثلاث لو حرة وثنتين لو امة وقبل الدخول وما فی المشکلات باطل او مؤول کما مر حتی يطأها غيره الخ بنکاح نافذ الخ وتمضی عدة الثاني (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب الرجعة ج۲ ص۷۳۹. ط. س ج۳ ص۴۰۹). ظفير

(۲) وذهب جمهور الصحابة والتابعين ومن بعدهم من ائمة لسلمين الی انه يقع ثلاث الخ وقد ثبت النقل عن اکثرهم صريحا بايقاع الثلاث ولم يظهر لهم مخالف فما ذا بعد الحق الا الضلال (ردالمحتار کتاب الطلاق ج۲ ص۵۷۲. ط. س. ج۳ ص۲۳۳). ظفير

(۳) سورة البقرة: ۲۹۵. ظفير

کي چي کله دری طلاقه ورکول تقریرا، تحریرا او په شاهدانو سره ثابت دي نو ددي سړي دخپلي مطلقي ښځي سره دوباره نکاح کول بي له حلالي حرام دي او ددي کار تعزیر دادی چي دا ښځه دده څخه جلا کړله سي او دنکاح تړونکي چي کومو معاونینو په دي نکاح کي ګډون کړی دی اوپه خپله نکاح کوونکي ګنهګار دي ټول دي توبه وکړي اوبیا دي دداسي فعل ارتکاب نه کوي. ښکاره دي وي چي که میړه پریوه ځای دری طلاقه ورکړي نو دا دری طلاقه هم واقع کیږي او دا مسئله اجماعي ده ددي خلاف ته علامه فتح القدیر ګمراهي او ضلالت ویلي دی او دصحابهٔ کرامو څخه رانیولي تر دي زماني پوري پر دي اجماع را نقل سویده او دهوا دمتبعینو شرذمهٔ قلیلیه وو خلاف معتبر نه دي لکه څنګه چي علامه شامي په کتاب الطلاق کي ددي تحقیق دمحقق ابن همام یعني دفتح القدیر دمصنف څخه را نقل کړی دی. ([1])

اول یی دتعلیق الفاظ وویل او بیایی دپوښتني په جواب کی وویل چي: طلاق مي ورکړی دی نوپه دي صورت کی څه حکم دی؟ **سوال:** (۴۳۱) زید دخپلي ښځي هندي په نوم یوه برخه جایداد رجسټر کی څوکاله وروسته یي خپلي ښځي ته وویل چي که ته دخپلي رجسټر سوي ځمکي څخه لاس په سرکیدل ونه لیکي نوتاته دری طلاقه وروسته بیا هاشم دزید څخه پوښتنه وکړه چي آیا دطلاق واقعه صحیح ده نو جواب یي ورکی چي هو! صحیح ده موږ دری طلاقه ورکړی دي نوآیا پرهنده طلاق واقع سو او که نه؟

جواب: اول چي کم الفاظ زید ویلي وه هغه تعلیق وو خو چي دوباره یي دهاشم په پوښتنه کولو کم الفاظ وویل نو په دي سره دزید پرښځه دری طلاقه فی الحال واقع سوه اوبي له حلالي دا ښځه دزید لپاره حلاله نه ده. کذا فی کتب الفقه. ([2])

دحیض په حالت کی یی دری طلاقه ورکړل نو آیا رجوع کولای سي؟ **سوال:** (۴۳۲) یوه سړي خپلي ښځي ته دحیض په حالت کي دری طلاقه ورکړل یوه مولوي فتوی ورکړه چي په حالت دحیض کي تردریو طلاقو وروسته هم رجوع کافي ده او دحلالي ضرورت نسته اوفقهاء هم په طلاق فی الحیض کي رجوع واجب بولي نوآیا بي له حلالي رجوع کافي ده

([1]) وذهب جمهور الصحابة والتابعين ومن بعدهم من ائمة المسلمين الى انه يقع ثلاثا وقد ثبت النقل عن اكثرهم صريحا بايقاع الثلاث ولم يظهر لهم مخالف فما ذا بعد الحق الا الضلال (شامي كتاب الطلاق ج۲ ص۵۷۲. ط. س. ج۳ ص۲۳۳). ظفير

([2]) وان كان الطلاق ثلاثا الخ لم تحل له حتى تنكح زوجا غيره نكاحا صحيحا ويدخل بها ثم يطلقها او يموت عنها ولا فرق ذلك بين كون المطلقه مدخولا بها او غير مدخولا بها ويشترط ان يكون الإيلاج موجبا للغسل وهو التقاء الختانين اما الانزال فليس بشرط للاحلال (عالمگيري مصري باب الرجعة ج۱ ص۱۷۳. ط. ماجديه ج۱ ص۴۷۳). ظفير

او که نه؟

جواب: حائضي ته په حالت دحيض کي درى طلاق ورکول بي شکه چي بدعت دى خو طلاق واقع کيږي ددي وجهي فقهاوو رجوع ضروري ليکلي ده اوظاهره ده چي رجوع په يوه يا دوو صريحو طلاقو کي کيداى سي (۱) او ددريو طلاقو څخه وروسته رجوع صحيح نه ده او بي له حلالي داول ميړه لپاره ددي سره نکاح جائزه نه ده (۲) کما صرح به الشامي عن فتح القدير ان الاجماع حصل على وقوع الثلث واجماع الصحابى حق فما ذا بعد الحق الا الضلال ومن شاء فليراجع الى كتب الفقه. (۳)

درى ځله خپلي ښځي ته دتلاک دلفظ په ويلوسره طلاق واقع کيږي او که نه؟ سوال: (۴۳۳) يو سړى خپلي ښځي ته په قهر سو او درى ځله يي دتلاك لفظ ورته ووايه نو دده ښځه طلاقه سوه او که نه؟ او حلاله ضروري ده اوکه نه؟

جواب: په دي صورت کي دده ښځه مطلقه ثلاثه سوه اوبي له حلالي دا ښځه داول ميړه لپاره حلاله نه ده قال الله تعالى: فان طلقها فلا تحل له من بعد حتى تنكح زوجا غيره (۴) وقال فى الدرالمختار ويقع بها اى بهذه الالفاظ وما بمعناها من الصريح ويدخل نحو طلاغ وتلاغ وطلاق وتلاك الخ بلا فرق بين عالم وجاهل وان قال تعمدته تخويفا لم يصدق قضاءً الخ (۵) وهكذا فى الشامي وقال عليه الصلاة والسلام: ثلث جدهن جد وهزلهن جد. الحديث (۶).

تاته مي يو طلاق دوه طلاق درکړه، او نيت ددوو ښيي نو څه حکم دى؟ سوال: (۴۳۴) يوه سړي خپلي مدخول بها ښځي ته دجنگ په حالت کي وويل تاته مي يو طلاق دوه طلاقه

---

(۱) اما البدعي فنوعان بدعي لمعنى يعود الى العدد وبدعي لمعنى يعود الى الوقت فالذي يعود الى العدد ان يطلقها ثلاثا فى طهر واحد بكلمة واحدة اوبكلمات متفرقة الخ فاذا فعل وقع الطلاق وكان عاصيا والبدعي من حيث الوقت ان يطلق المدخول بها وهى ذوات الاقراء فى حالة الحيض او طهر جامعها فيه فكان الطلاق واقعًا ويستحب ل ان يراجعها ولا صح ان الرجعة واجبة هكذا فى الكافي (عالمگيري كتاب الطلاق ج۱ ص۳۴۹. ط. ماجديه ج۱ ص۳۴۹). ظفير

(۲) اذا طلق الرجل امرأته تطليقه رجعية او تطليقتين فله ان يراجعها في عدتها رضيت بذلك ام لم ترض الخ وان كان الطلاق ثلاثا فى الحرة الخ لم تحل له حتى تنكح زوجا غيره نكاحا صحيحا ويدخل بها ثم يطلقها او يموت عنها والاصل فيه قوله تعالى: فان طلقها فلا تحل له من بعد حتى تنكح زوجا غيره، الآيه (هدايه باب الرجعة ج۲ ص۳۷۳ - ۳۷۹). ظفير

(۳) وگورئ: ردالمحتار كتاب الطلاق ج۲ ص۵۷۲. ظفير

(۴) سورة البقرة ركوع ۲۹. ظفير

(۵) الدرالمختار على هامش ردالمحتار باب الصريح ج۲ ص۵۹۰. ط. س. ج۳ ص۲۴۸ - ۲۴۹. ظفير

(۶) مشكوة كتاب الطلاق ج۲ ص۲۸۴. ظفير

درکړل، څه! ددو طلاقو په مينځ کي دچپ کيدو پرته، نو په دي صورت کي دده ښځه مطلقه په دريو طلاقو سره سوه، اوکه مطلقه په دوو طلاقو، اوکه په يوه طلاق سوه خوکه طالق ووايي چي زما نيت ددوو طلاقو وو نو دقاضي خان ددي عبارت: ولو قال ترا يك طلاق وسكت ثم قال ودو طلاق طلقت ثلاثا ولو قال "دو طلاق" بغير حرف العطف ان نوى العطف طلقت ثلاثا وان لم ينو لا يقع الا واحدة (۱)، څخه دومره معلوميږي چي دطلاق ورکوونکي دسکوت په صورت کي که يي په "دو طلاق" لفظ سره نيت دعطف کړي وو نو دری طلاقه به واقع سي کنې يو طلاق خو که يي بې له سکوت څخه اوبي له عطف څخه ووايي نو دری طلاقه به واقع وي اوکه نه؟ بينوا بالدليل!

جواب: دشامي دلانديني عبارت څخه هم په ذکر سوي صورت کي ددريو طلاقو وقوع معلوميږي او احتياط په هم دی کي دی چي حکم دوقوع ددريو طلاقو وسي: قال في الشامي في قوله انت طالق لا بل ثنتين الخ ولو كانت مدخولا تقع ثلث لانه اخبر انه غلط في ايقاع الواحدة ورجع عنها الى ايقاع الثنتين بدلها فصح ايقاعها دون رجوعه الخ (۲) ص۴۵۷ جلد ثاني شامي.

ويې ويل: تاته يو طلاق دوه طلاقه ته مې پريښودلې نو کم يو طلاق واقع سو؟ سوال: (۴۳۵) يوه سړي ديوه مولوي په مخکي اقرار وکی چي ماخپلي ښځي ته دوه طلاقه ورکړي دي نو چي کله دنورو ګاونډيانو څخه پوښتنه وسوه نو دوی داسي وويل چي موږ په دغه ورځ کي په کور کي نه وو څو ورځي وروسته يي وويل چي زموږ په مخکي يي دری طلاقه ورکړي دي خو موږ پټ کړي وه او چي دطالق څخه پوښتنه وسوه نو دی وايي چي ما داسي ويلي وه تاته يو طلاق دوه طلاقه اوته مي پريښودي نو په دي صورت کي څه حکم دی؟

جواب: داشاهدان معتبر نه دي: لفسقهم باخفاء الشهادة وانكارها، ليکن کله چي ميړه اقرار کوي چي ماداسي ويلي دي چي تاته يو دوه طلاقه ته مي پريښودي نو دميړه داقرار په اعتبار دری طلاقه دده پرښځه واقع سوه ولي چي په لفظ دپريښودلو هم په قرينه دماسبق مراد طلاق دی اوپه کتابونو دفقه کي تصريح ده: الصريح يلحق الصريح والبائن، درمختار. (۳)

شافعي المذهبه خپلي ښځي ته په يومجلس کی دری طلاقه ورکړل اوس بې له حلالي ميړه

(۱) وګوری: فتاوی قاضي خان علي هامش فتاوی الهنديه عالمگيري کتاب الطلاق ج۱ ص۴۲۰. ظفير

(۲) ردالمحتار کتاب الطلاق. ظفير

(۳) الدرالمختار على هامش ردالمحتار باب الكنايات ج۲ ص۶۴۵. ط. س. ج۳ ص۳۰۲. ظفير

رجوع کولای سي او که نه؟ سوال: (۴۳۶) یوه شافعي خپلي ښځي ته په یوه مجلس کي دری طلاقه ورکړل اوس دځلورو مذهبو له مخي آیا بي له حلالي په دریو طلاقونو طلاقي سوي ته رجوع کولای سي؟

جواب: بي له حلالي ذکر سوي مطلقي ثلاثي ته رجوع نسي کولای: لإطلاق قوله تعالی: الطلاق مرتان (الی قوله تعالی) فان طلقها فلا تحل له من بعد حتی تنکح زوجا غیره. (۱) الآیه، وقال فی ردالمحتار وذهب جمهور الصحابة والتابعین ومن بعدهم من أئمة المسلمین الی انه یقع ثلث الی ان قال ناقلا عن فتح القدیر وقد ثبت النقل عن اکثرهم صریحا بایقاع الثلث ولم یظهر لهم مخالف فما ذا بعد الحق الا الضلال وعن هذا قلنا لو حکم حاکم بانها واحدة لم ینفذ حکمه لانه لا یسوغ فیه الاجتهاد فهو خلاف لا اختلاف الخ (۲) ددي څخه معلومه سوه چي دجمهورو صحابه وو اودځلورو امامانو مذهب په دي صورت کي دثلاثه وو دوقوع دی نو ددي څخه وروسته یعني دصحابهٔ کرامو او هغو خلګو چي ددوی څخه وروسته وه تراجماع وروسته دچا خلاف معتبرنه دی بلکه صریحه ګمراهي ده.

په یو مجلس کی ددریو طلاقو دوجود سره سره بی له حلالی درجوع فتوی ورکول څه حکم لري؟ سوال: (۴۳۷) په قصور ښار کي یو مولوي صاحب دڅه وخته راهیسي اوسیږي چي هغه دا فتوی جاري کړیده چي کمي ښځي ته په یوه ځل دری طلاقه ورکړل سي نو دمطلقي ثلاثه دمیړه لپاره بي له حلالي رجوع کول صحیح دي نو په دي صورت کي شرعي فتوی څه ده؟

جواب: دا فتوی بالکل غلطه او دقطعي نص او دجمهورو امامانو دمذهب خلاف ده مطلقه ثلاثه بي له حلالي حلالول، ګویا چي دالله مقابله کول دي چي په کلام الله کي ددریم طلاق څخه وروسته صفا حکم دی چي بي له حلالی دامطلقه ثلثه ښځه داول میړه دپار حلاله نه ده که ددي طلاق په یو ځل وي او که جدا وي: قال الله تعالی: فان طلقها فلا تحل له من بعد حتی تنکح زوجا غیره، الآیة (۳) او علامه محقق ابن همام ددي خلګو پوره تردید کړی دی چي څوك ددریو طلاقو څخه وروسته بي له حلالي مطلقه ثلثه داول میړه لپاره جائزه ګني اوپه اخر کي یي دا لیکلي دي چي: (۴) وقد ثبت النقل عن اکثرهم

(۱) سورة البقرة : ۲۹۰. ظفیر
(۲) ردالمحتار للشامي ج۲ ص۵۷۲ – ۵۷۷. ط. س. ج۳ ص۲۳۳. ظفیر
(۳) سورة البقرة رکوع ۲۹. ظفیر
(۴) ردالمحتار کتاب الطلاق ج۲ ص۵۷۲. ط. س ج۳ ص۲۳۳. ظفیر

صريحا بايقاع الثلث ولم يظهر لهم مخالف فما ذا بعدالحق الا الضلال، الخ چي فتوی دنكاح دجواز بي له حلالي په ذكر سوي صورت كي وركول عين ضلالت او گمراهي ده دداسي فتوی وركوونكي دفتوی منل هيڅ كله مسلمانانو ته نه ښايي.

ويې ويل دخلكو په وينا مې درې طلاقه وركړل نوڅه حكم دی؟ سوال: (۴۳۸) عمر دخلگو په ويلو سره چي كله دده دښځي په اړوند دطلاق تذكره كيدله په مجبوری لفظ ددريو طلاقو ووايه دغه وخت دا معلومه نه سوه چي طلاق يي چاته وركی نواوس طلاق واقع سو او كه نه؟

جواب: په دي صورت كي طلاق واقع سوځكه چي خلگوكله ميړه ته دده دښځي دطلاقولو وويل او ده دهغوی په غوښتنه درې ځله وويل چي ما درې طلاقه وركړل نو دده پرښځه درې طلاقه واقع سوه ځكه چي قرائن پردي دال دي چي مراد يي خپلي ښځي ته طلاق وركول دي او طلاق هم ښځي ته وركول كيږي اوپه پوښتل سوي صورت كي خو دښځي دطلاق تذكره او مباحثه وه.

ښځي ته يې وويل چي درې طلاقه نو څه حكم دی؟ سوال: (۴۳۹) زيد دطلاق دمذاكري په حالت كي خپلی ښځي ته بي له صريح اضافت څخه ويلي دي ثلاثه طلاق، كله چي دده څخه په دي اړه پوښتنه وسوه جواب يي وركی چي ما خپلي ښځي ته ويلي وه نو په دي صورت كي څه حكم دی؟

جواب: په دي صورت كي دده ښځه په دريو طلاقونو طلاقه سوه.

يو طلاق يې وركړی وو خو په عدالت كی يی بيان وكی چي درې طلاقه مې وركړي دي نوڅه حكم دی؟ سوال: (۴۴۰) يوه سړي خپلي ښځي ته يو طلاق وركی او دمور كور ته يې وليږله ښځي حاكم ته دنفقي دعوه وړاندي كړه. حاكم دميړه څخه پوښتنه وكړه چي تاطلاق وركړی دی ويي ويل چي درې طلاقه مي وركړي دي؟ اگرچي وړاندي ده درې طلاقه نه وه وركړي خو دده په وينا يي درې طلاقه ښځي ته وركړي وه نو په دي صورت كي دده پرښځه درې طلاقه واقع سوه او كه نه؟

جواب: چي كله دي سړي دحاكم دپوښتني په جواب كي وويل چي درې طلاقه مي وركړي دي اگر چي ده اول درې طلاقه نه وه وركړي خو په دي ويلو سره دده پرښځه درې طلاقه واقع سوه: كما في الدرالمختار لان الانشاء في الماضي انشاء في الحال الخ (درمختار[۱]) ولا يمكن تصحيحه إخبارا لكذبه وعدم قدرته على الاسناد فكان انشاءًا في الحال

(۱) الدرالمختار على هامش ردالمحتار باب الصريح ج۲ ص۲۰۷. ط. س. ج۳ ص۲۲۲. ظفير

الخ شامي جلد ثاني. (۱) فقط

يو طلاق دوه طلاقه دري طلاقه يې وويل نو کم طلاق واقع سو؟ سوال: (۴۴۱) يو سړی خپلي ښځي ته غصه سو او ويې ويل يو طلاق دوه طلاقه دري طلاقه نو يوه عالم پوښتنه ورڅخه وکړه چي تا چاته طلاق ورکی؟ ده وويل ما خپلي ښځي ته طلاق ورکی. نو په دې صورت کي دده پرښځه طلاق واقع سو او که نه؟

جواب: په دي صورت کي دري طلاق دده پرښځه واقع سوه اودا بائنه مغلظه سوه کما فی ردالمحتار عن البحر لو قال طالق فقيل له من عنيت قال إمرأتي طلقت امرأته الخ (۲).

يو طلاق دوه طلاقه بائن طلاق، په دې ويلو سره څوطلاقه واقع سوه؟ سوال: (۴۴۲) يوه سړي خپلي ښځي ته دجنګ په حالت کي يو طلاق دوه طلاقه بائن طلاق دي، وويل پردي يوسړی او يوه ښځه شاهدان دي خو ميړه دښځي نوم دطلاق په وخت کي نه دی ياد کړی نو په دي صورت کي کم طلاق واقع سو؟

جواب: په دي صورت کي دده پرښځه دری طلاقه واقع سوه، ميړه مقر دی چي ما دا الفاظ ويلي دي خوکه دی انکار کوي او دوه عادلان سړي يا يو سړی عادل او دوې ښځي عادلاني نه وي نو بيا به طلاق ثابت نه وي پاته سو نوم اخيستل دښځي نو دا شرط نه دی ځکه چي قرينه سته چي ده خپلي ښځي ته طلاق ورکړی دی: قال فی الشامي ولا يلزم کون الاضافة صريحة فی کلامه لما فی البحر لو قال طالق فقيل من عنيت فقال امرأتي طلقت إمرأته الی ان قال فهذا يدل علی وقوعه وان لم يضفه الی المرأة صريحا (۳) لان العادة ان من له امرأة انما يحلف بطلاقها لا بطلاق غيرها فقوله اني حلفت بالطلاق ينصرف اليها ما لم يرد غيرها الخ شامي جلد ثاني ص۴۲۹ وص۴۳۰. فقط

دغضب په حالت کی يی دري طلاقه ښځي ته ورکړل اوس يوه مولوي فتوی ورکړيده چي طلاق نه دی واقع سوی دويم وايي چي دوه طلاقه واقع سوه دريم وايي چي دري طلاقه واقع سوه، نو دکم يوه خبره درسته ده؟ سوال: (۴۴۳) زين الدين دغصي په حالت کي ښځي ته دري طلاقه بلکه پنځه شپږ طلاقه ورکړل په دي اړه مولوي عبدالرحمان دافيصله وکړه چي دغصي په حالت کي طلاق نه واقع کيږي او مولوي خليل الرحمن ددوو طلاقو دواقع کيدو فتوی ورکړه او دمطلقي نکاح يي دطالق سره بي له حلالي وکړه خو مولوي عبدالشکور ددريو طلاقوفتوی ورکړه چي دزين الدين پرښځه دري طلاقه واقع سوي دي

(۱) ردالمحتار باب الصريح ج۲ ص۲۰۷. ط. س. ج۳ ص۲۲۲. ظفير

(۲) ردالمحتار باب الصريح ج۲ ص۵۹۰. ط. س. ج۳ ص۲۴۸. ظفير

(۳) ردالمحتار باب الصريح ج۲ ص ۵۹۰. ط. س. ج۳ ص۲۲۸. ظفير

نو په دي صورت کي دچا فتوی حق ده؟

جواب: (اقول وبالله التوفيق) په پوښتل سوي صورت کي فتوی اوفيصله دمولوي عبدالشکور صاحب صحيح ده، دزين الدين پرښځه باندي دری طلاقه واقع سوي دي او دمولوي عبدالرحمن فتوی دنه واقع کيدو او دمولوي خليل الرحمن حکم ددوو طلاقو کول دواړه غلط دي او بي له حلالي نکاح کول بالکل باطل او حرام دی اوس زين الدين ته په کار دي چي دا ښځه جلا کړي او بي له حلالي دا مطلقه دوهم وار په نکاح کي راوستل ناجائز دي (۱) کما قال الله تعالی: فان طلقها فلا تحل له من بعد حتی تنکح زوجا غيره، الأيه، (۲) نو په دريو طلاقو طلاقه سوي له حلالي پرته ساتل او دحلالي پرته ورسره نکاح کول قطعاً حرام او باطل او دڅرګند نص څخه خلاف دي. فقط

<u>په يو ځل يي دری طلاقه ورکړل نو اوس رجوع ورته کولای سي اوکه نه؟</u> سوال: (۴۴۴) يوه سړي خپلي ښځي ته يه يو ځل دری طلاقه ورکړل او په هدايه کي دي چي دری طلاقه په يوځل ورکول يو طلاق کيږي نورجوع کولای سي اوکه نه؟

جواب: په هدايه کي داسي دي چي دری طلاقه په يو ځل ورکول بدعت دي خو دری واړه طلاقه واقع کيږي او دا سړی دبدعت په کولو سره عاصي او ګنهګار سو توبه دي وباسي قال في الهداية: وطلاق البدعة ان يطلقها ثلاثا بکلمة واحدة او ثلاثا في طهر واحد فاذا فعل ذلك وقع الطلاق وکان عاصيا الخ (۳) دهدايي ددي عبارت څخه څرګنده سوه چي په يوه ځل ددريو طلاقو په ورکولو سره دری طلاقونه واقع کيږي خو دی ګنهکار سو، دسنت څخه دمخالفت په وجه اوهمدا ډول دفقهي په ټولو کتابونو کي دي چي په ذکر سوي صورت کي دری طلاقه واقع کيږي اوبي له حلالي دا مطلقه ښځه داول ميړه لپاره حلاله نه ده.

<u>په څو طلاقو سره ښځه بي حلالي حرامه ګرځي؟</u> سوال: (۴۴۵) په څو ځله طلاق ورکولو سره ښځه بي له حلالي دطلاق ورکوونکي ميړه لپاره حرامه ګرځي؟

جواب: ددريو طلاقو دورکولو څخه وروسته مطلقه ښځه بي له حلالي داول ميړه لپاره نه حلاليږي. (۴)

---

(۱) وتقع طلاق من غضب خلافا لابن القيم (ردالمحتار کتاب الطلاق ج۲ ص۵۸۷. ط. س. ج۳ ص۲۴۴) مطلب في طلاق. ظفير

(۲) سورة البقرة ۲۱۵. ظفير (۳) هدايه کتاب الطلاق ج۲ ص۳۳۵. ظفير

(۴) وان کان الطلاق ثلاث ای الحرة او ثنتين فی الامة لم تحل له حتی تنکح زوجا غيره نکاحا صحيحا ويدخل بها ثم يطلقها او يموت عنها (هدايه باب الرجعة ج۲ ص۳۷۹). ظفير

دلس ځله طلاق ورکولو څخه وروسته داول میړه لپاره بي له حلالي جائز نه ده: **سوال:** (۴۴۶) چي يو سړي خپلي منكوحي ته لس ځله طلاق ورکړي اوثابت هم سي نو آيا دابنځه داول میړه لپاره بي له حلالي حلالیدی سي؟

جواب: بي له حلالي دابنځه داول میړه لپاره نه سي حلالیدای.

ددريو طلاقو څخه وروسته ښځه ساتل څنګه دي او په دي وخت کي چي کم اولاد زيږي نو هغه وارث ګرځي اوکه نه؟ **سوال:** (۴۴۷) ديوي مغلظي مطلقي ښځي سره بي له حلالي میړه باقاعده کوروالي کوي داسي سړي لره شرعًا څه سزا ده اوچي کم اولاد يي پيدا سي نو هغه به ددي سړي دجايداد مستحق وي اوکه نه؟ او داسي سړي دخلافت او دسجاده نشيني قابل دي اوکه نه؟

جواب: ددي طلاق ورکوونکي دا فعل حرام دی او ددي حرمت دزنا په څير متيقن دی او عذاب يي هم دزاني په ډول دی او داولاد نسب داشتباه دامکان په وجه دده څخه ثابتيږي او دده ميراث به وړي او داسړي چي مرتکب ددي حرام فعل دي فاسق اوبد کاره دی دخدمت او دپيری وړ نه دي او دپير جوړولو اهل نه دی. (۱)

مدخوله اوغير مدخوله په: حتى تنكح زوجا غيره، کي برابر دي اوکه نه په دواړو کي څه فرق سته؟ **سوال:** (۴۴۸) د: حتى تنكح زوجا غيره، دتحليل حکم دمدخولي او غير مدخولي لپاره برابر دی او که توپير لري؟

جواب: دغير مدخولي حکم په هغه صورت کي چي دری طلاقه پردي واقع سي مثلا که په يوه ځل دری طلاقه دي ته ورکړي لکه دا قول دمیړه: طلقتك ثلاثا نو په داسي صورت کي مدخوله مطلقه ثلاثه او غير مدخوله مطلقه ثلاثه دواړه دتحليل په حکم کي يو برابر دي چي دحلالي پرته دلومړي میړه لپاره حلالي نه دي. (۲)

يو دوه دری طلاقه، او يو طلاق دوه طلاقه دری طلاقه په دي کي څه فرق دی؟ **سوال:** (۴۴۹) يودوه دری طلاقه اويوطلاق دوه طلاقه دریطلاقه يوه خبره ده اوکه نه؟ په دواړو

(۱) وقيل يثبت لتصور العلوق فی حال الطلاق وزعم في الجوهرة انه الصواب الا بدعوته لانه التزمه وهی شبهة عقد ايضا (درمختار) واشار به الی الجواب عن اعتراض الزيلعي بان المبتوتة بالثلاث اذا وطئها الزوج شبهة كانت شبهة فی الفعل وصوا علی ان شبهة الفعل لا يثبت فيها النسب وان ادعاه واجاب فی البحر بان وطی المطلقة بالثلاث لو علی مال لم تتمحض للفعل بل هی شبهة عقد ايضا فلا تناقض ای لان ثبوت النسب اوجد شبهة العقد (ردالمحتار باب ثبوت النسب ج۲ ص۸۵۸. ط. س. ج۳ ص۵۴۱). ظفير

(۲) وان كان الطلاق ثلاثا لم تحل له حتی تنكح زوجا غيره نكاحا صحيحا ويدخل بها ثم يطلقها او يموت عنها ولا فرق فی ذلك بين كون المطلقة مدخولا بها او غير مدخولا بها كذا في فتح القدير ج۱ ص۴۷۳ (عالمگيري مصري باب الرجعة). ظفير

صورتونوکي به دری طلاقه واقع وي اوکه نه؟
جواب: ددي دواړوکلمويومطلب دی اوپه دي دواړوصورتونوکي به دری طلاقه واقع وي.
يو طلاق يې ورکی خوکله چې پوښتنه ورڅخه وسوه وېې ويل چې دری طلاقه مې ورکړل نو څه حکم دی؟ **سوال:** (۴۵۰) زيد خپلي منکوحي ته يوځل وويل چې ماتاته طلاق درکی دايي وويل اويوه لور ته روان سو په لاره کي يوه سړي پوښتنه ورڅخه وکړه چې اوريدلي مو دي چي تا خپلي ښځی ته طلاق ورکړی ده وويل دری طلاقه مي ورکړيدي نو دزيد پرښځه څوطلاقه واقع سوه؟
جواب: په دي صورت کي دده پرښځه دری طلاقه واقع سوه: کما قال الله تعالی: فان طلقها فلا تحل له من بعد حتی تنکح زوجا غيره [1]، او په حديث کي دي: ثلث جدهن جد وهزلهن جد، الحديث، وعدّ ﷺ فيها الطلاق. [2] فقط
ميړه چې کله ددريو طلاقو اقرار وکړي نو دعدته څخه وروسته ښځه واده کولای سي: **سوال:** (۴۵۱) زيد خپلي ښځي ته خط وليکی چي ما طلاق درکړی دی چي دری ځله ليکل سوی وو څه موده وروسته بکر ده ته ورغی او پوښتنه يي ورڅخه وکړه چي آيا تا خپلي منکوحي ته طلاق ورکړی دی ده وويل چي نه! په دوه دری ځله پوښتنه کولو باندي ده اقرار وکی، بکر ورته وويل چي ددي دويمه نکاح وکړه ده وويل چي هرڅوك نکاح ورسره وکړي نو زه به ورسره ګورم، نو په دي صورت کي څه حکم دی؟
جواب: چي کله زيد اقرار ددريو طلاقو وکی نو دده پرښځه دري طلاقه واقع سوه دعدت څخه وروسته دويمه نکاح ددي مطلقي ښځي صحيح ده او دزيد دا ويل چي زه به ورسره وګورم الخ لغوه دي په دي سره هيڅ نه کيږي او دطلاق عدت دری حيضه دي او دغير حائضي لپاره دری مياشتي دي [3].
طلاق مې ورکی، ورکی، ورکی، په دې ويلو سره څو طلاقه واقع کيږي؟ **سوال:** (۴۵۲) دزيد ښځي دميړه داجازي پرته دهغه دصلبي لور نکاح دخپل خوريي سره وکړه زيد چي موجود نه وو نو ددي وجهي دی په دي باندي خبر سوی نه وو يواځي دعقد په وخت کي دنکاح وروسته زيد دهغه خسر طلب کی زيد ته چي په دي حرکت ډيره سخته غصه ورغلي وه په دي حالت کي زيدخپلي ښځي ته دخپل خسر په مخ کي په دي الفاظو طلاق

---

[1] سورة البقرة. ظفير
[2] مشکوة کتاب الطلاق ج۲ ص۲۸۴. ظفير
[3] واللائي يئسن من المحيض من نسائکم ان ارتبتم فعدتهن ثلثة اشهر واللائي لم يحضن، سورة الطلاق: رکوع ۱، والمطلقت يتربصن بانفسهن ثلثة قروء، سورة البقرة: رکوع ۲۸. ظفير

ورکړی چي ما ستا لورته طلاق ورکی، ورکی، ورکی، او انجلۍ بالغه وه نو دا نکاح وسوه اوکه نه؟

جواب: که انجلۍ بالغه وه نو دانجلۍ په اجازه سره ددي مور که دکفو سره نکاح کړي وي نو نکاح صحیح سوه او دزید پرښځه په دي صورت کي دری طلاقه واقع سوه بي له حلالي زید ددي سره دوهم وار نکاح نه سي کولای. ([1])

که چا ښځي ته وویل طلاق می درکړ درکړ درکړ نو څو طلاقه واقع سوه؟ سوال: (۴۵۳) که چا خپلي ښځي ته وویل چي طلاق مي درکړ درکړ درکړ نو په دي صورت کي څو طلاقه واقع سوه؟

جواب: په دي لفظ چي طلاق مي درکړ درکړ درکړ دری طلاقه واقع کیږي او نیت دتاکید معتبردی. ([2])

په دوو او دریو کی شک دی نو څو طلاقه به واقع وي؟ سوال: (۴۵۴) که یوه سړي ته داشك وي چي ښځي ته مي دوه طلاقه ورکړیدي اوکه دری طلاقه نو څو طلاقه به واقع وي؟

جواب: چي په دي کي شك وي چي دوه مي ورکړي دي اوکه دری نو دوه طلاقه به واقع وي. ([3])

ویي ویل طلاق درکوم، طلاق می درکی، وزه، نو څوطلاقه واقع سوه؟ سوال: (۴۵۵) دمیړه بیان دی چي ښځي زما درضا خخه خلاف داسي کار وکی چي ماته غصه ورباندي راغله او ماپه لومړي وار دا وویل چي طلاق ورکوم اوبیا دا لفظ چي تاته مي طلاق درکی اوپه دریم ځل مي داسي وویل چي ووزه او دښځي هم دا بیان دی په دي صورت کي پرښځه طلاق واقع سو اوکه نه؟

جواب: په دي صورت کي دمیړه او دښځي ددواړو بیان موافق دی دوه طلاقه صریح ددواړو په بیان کي سته او طلاق درکوم یا تاته مي طلاق درکړی دي په دواړو کي هیڅ فرق نسته او دواړه الفاظ دصریح طلاق دي په دواړو سره طلاق واقع کیږي نو په دي الفاظو سره دوه طلاقه پرښځه واقع سوه اودا لفظ چي ووزه کنایي دي که په نیت دطلاق دا لفظ وویل سي نو په دي صورت کي هم طلاق واقع کیږي نوکه میړه په نیت دطلاق

([1]) کرر لفظ الطلاق وقع الکل وان نوی التاکید دین (درمختار) ای وقع الکل قضاءا وکذا اذا طلق اشباه ای بان لم ینو استئنافا ولا تاکیداً لان الاصل عدم التاکید (ردالمحتار باب طلاق غیر المدخول بها ج۲ ص۲۳۲. ط. س. ج۳ ص۲۹۳). ظفیر

([2]) کرر لفظ الطلاق وقع الکل وإن نوی التاکید دین (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب طلاق غیر المدخول بها ج۲ ص۲۳۲. ط. س. ج۳ ص۲۹۳). ظفیر

([3]) ولو شك اطلق واحدة او اکثر بنی علی الاقل (ایضا باب الصریح ج۲ ص۲۲۳. ط. س. ج۳ ص۲۸۳). ظفیر

دالفظ ویلي وي نو په دي صورت کي بیا دري طلاقه پرښځي واقع سوه او دا مغلظه بائنه سوه بي له حلالي دا ښځه اول میړه نه سي ساتلای اوپه درمختار کي دي چي ترصریح طلاق وروسته بائن واقع کیږي: ویلحق البائن الصریح (۱) الخ.

ویې ویل طلاق می ورکی خلکو وویل داسي مه وایه ده وویل په رښتیا می طلاق ورکړی دی بیا یې دوهم وار وویل نو څو طلاقه واقع سوه؟ سوال: (۴۵۲) دزید او دده دښځي په مینځ کي جنګ وسو زید په غصه کي دباندي راووتی خلګو پوښتنه ورځخه وکړه چي څه وسوه ده وویل زما سامان را وغواړی زه به یوځای ولاړ سم ما دیته طلاق ورکی، حال دادی چي طلاق یي نه وو ورکړی، اوس زما ددي سره څه کار نسته، خلګو وویل داسي مه وایه ده وویل رښتیا دی طلاق مي ورکی بیا خلګو وویل داسي مه وایه ده وویل نه صاحب ما طلاق ورکړی دی نو کم ډول طلاق واقع سو؟

جواب: په دي صورت کي طلاق واقع سو او که په دویم او دریم لفظ سره خبر ورکول داول طلاق په خیال کي نه وي نو دری طلاقه واقع سوه، او ښځه مغلظه بائنه سوه بي له حلالي داول میړه لپاره دا ښځه حلاله نه ده (۲) (اوکه په دویم او دریم لفظ سره دمخکی خبر ورکول مقصود وو نو صرف یو طلاق رجعي واقع سو. ظفیر)

درجعي طلاق طلاقنامه یې ولیکله یوچا په زوره یوطلاق په دري طلاقه کړل، نو څه حکم دي؟ سوال: (۴۵۷) یوه سړي خپلي ښځي ته په طلاقنامه کي رجعي طلاق ولیکی یوه شاهد زید ته وویل او زور یي پر راوړی چي دطلاق سره یي (۳) عدد پرولیکی نو په دي صورت کي رجوع صحیح ده اوکه نه؟

جواب: په دي صورت کي د (۳) عدد دلیکلو په وجه دده پرښځه دری طلاقه واقع سوه او په دي کي یی رجوع صحیح نه ده او بي له حلالي نوي نکاح نه سي کیدای حلاله کیدل په کاردي او طریقه دحلالي داده چي دا ښځه به دعدت دتیریدو څخه وروسته دبل سړي سره نکاح وکړي او دا دویم میړه به ورته دوطی څخه وروسته طلاق ورکړي اوبیا به عدت هم تیر کړي نوپه دغه وخت کي بیا داول میړه لپاره حلاله ګرځي او درضا او زور په دي کي هیڅ فرق نسته په هر حال موافق دلیکلو د (۳) عدد دری طلاقه واقع کیږي:

---

(۱) وګورئ: الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب الکنایات ج۲ ص۶۴۵. ط. س. ج۳ ص۳۰۷، اذهبي الی جهنم یقع ان نوی وکذا اذهبي عنی (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب الکنایات ج۲ ص۶۵۲. ط. س. ج۳ ص۳۱۴). ظفیر

(۲) کرر لفظ الطلاق وقع الکل وان نوی التاکید دین (درمختار) واذا قال انت طالق قیل له ما قلت فقال فقد طلقتها او قلت هی طالق فهی طالق واحدة لانه جواب کذا فی الحاکم (ردالمحتار للشامي باب طلاق غیر المدخول بها ج۲ ص۶۳۲. ط. س. ج۳ ص۲۹۳). ظفیر

لقوله علیه الصلاة والسلام ثلث جدهن جد وهزلهن جد وعد منها الطلاق ([1]).

دا بوزه دری طلاقه دی نو په دي صورت کی څو طلاقه واقع سوه؟ سوال: (۴۵۸) زید خپلي ښځي ته په دي طریقه طلاق ورکی چي ای عمره ته دي خپله خور بوزه دیته زما دطرف څخه دری طلاقه دي بیا زید دڅلوېښتو ورځو لپاره بلي خواته ولاړی په دي دوران کي وبایي مرض دومره زیات سو چي ټول خلګ دکلي ناروغان سوه او ځیني پکښي مړه هم سوه نو یوه شاهد دزید دتیښتي په وجه څلوېښت ورځي او دوباء دمرض په علت دری میاشتي ذکرسوی شهادت دیو مفتی په وړاندي ادا نه کی ددریو میاشتو وروسته یي دیوه مفتی په مخ کي شاهدي وویله نو آیا مغلظ طلاق واقع سو اوکه نه؟ او دشهادت دتاخیر په باره کي څه حکم دی؟ آیا مطلق تیښته او دوباء مرض په تاخیر دشهادت کي صحیح عذر دی اوکه نه؟

جواب: په دي صورت کي دری طلاقه دزید پرښځه واقع سوه ([2]) او مفتی فتوی په دیانت ورکوي دده په مخ کي اداء دشهادت ضروري نه ده ([3]) او دقاضي نیستوالی یا لیري والی او وبایي مرض نازلیدل دشهادت دنه اداء کولو عذر کیدای سي.

ویی ویل ما ازاده کړی یی بیا یی څوځله وویل طلاق می درکړی دی نو څه حکم دی؟ سوال: (۴۵۹) زید په غصه کي خپلي ښځي ته وویل ما ازاده کړي یي او څوځله یي دا الفاظ وویل طلاق مي درکړی دی نو په دي صورت کي طلاق واقع سو اوکه نه؟

جواب: په دي صورت کي اول یو بائن طلاق واقع سوی وو اوبیا دطلاق په صریح لفظ څو ځله ویلو باندي دابښځه مطلقه ثلثه وګرځیده ځکه چي دفقهي په کتابونو کي دی چي دبائن څخه وروسته صریح طلاق لاحق کیږي کذا في المختار الصریح یلحق الصریح والبائن الخ، نو بي له حلالي اول میړه ددي سره نکاح نه سي کولای.

پردی ښځه یی ورته راوسته او ده وویل طلقت ثلثا نو دده ښځه طلاقه سوه اوکه نه؟ سوال: (۴۶۰) یوه سړي دخپلي مور سره دخپلي ښځي په وجه جنګ وکی چي ددي امله یي مور پرده غصه وکړه او ویي وهی ددي په جواب کي ده یوه پردی ښځه را وغوښتل او دطلقت ثلاثا لفظ یي ورته ووایه او حال دادی چي دده او دده دښځي په مینځ کي دطلاق ذکرهم

([1]) قال لزوجته غیر المدخول بها انت طالق ثلاثا الخ وقعن لما تقرر انه متی ذکر العدد کان الواقع به (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب طلاق غیر المدخول بها ج۲ ص۲۲۴. ط. س. ج۳ ص۲۸۴). ظفیر

([2]) المفتی یفتی بالدیانة والقاضي یقضي بالظاهر (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار کتاب القضاء ج۴ ص۴۲۴. ط. س. ج۵ ص۳۲۵ مطلب فی الاجتهاد وشروطه). ظفیر

([3]) الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب الکنایات ج۲ ص۲۴۵. ط. س. ج۳ ص۳۰۲ مطلب الصریح یلحق الصریح والبائن. ظفیر

نه دی سوی نو ددي الفاظو په اداء کولوسره دده پرښځه طلاق واقع سو اوکه نه؟

جواب: دسوال دا قرينه چي ددي سړي دخپلي ښځي په وجه دمور سره جنګ سوي الخ او دا تصريح دفقهاوو چي: لان العادة ان من له امرأة انما يحلف طلاقها لا بطلاق غيرها الخ. (۱) شامي او دارنګه داتصريح: ولايلزم کون الاضافة صريحة الخ (۲) کما فی الشامي، ددي مقتضی دی چي په موجوده صورت کي دده پرښځه دری طلاقه واقع سي اوقاضي په دي صورت کي حکم دطلاق کوي خوکه ميړه دا ووايي چي زما مراد خپلي ښځي ته طلاق ورکول نه وو نو دده تصديق به کيږي: کما فی الشامي ويويده ما فی البحر لوقال امرأة طالق او طلقت امرأة ثلثا وقال لم اعن امرأتي يصدق آه ويفهم منه انه لو لم يقل ذلك تطلق امرأته لان العادة ان من له امرأة انما يحلف بطلاقها لا بطلاق غيرها الخ (۳) شامي.

دخوښيني نيت يې وکی او دښځي ترور (عمې) ته يې وويل چي ستا وريرې ته طلاق نوڅه حکم دی؟ **سوال**: (۴۲۱) يو سړي په قسم سره وايي چي زما ښځه او ددي دواړه خويندي زما دميريزی مور وريري دي يوه ورځ ما دخپلي خوښيني نيت وکی او خپلي ميرى مور ته مي وويل ستا وريري ته ما دری طلاقه ورکړل خو په خدای قسم چي زما نيت دخپلي ښځي دطلاق نه وو نو په دي صورت کي دده پرښځه طلاق واقع سو اوکه نه؟ دده نيت اوقول معتبر دی، آيا دا مسئله په دي مسئله کي: رجل له بنات ذوات ازواج فقال زوج احداهن لا بينهن علی بنتك فينصرف الايقاع الی امرأته لانه لا يملك الايقاع الا عليها، داخله ده اوکه نه؟

جواب: دا پوښتل سوی صورت په دي نقل سوي مسئله کي داخل دی لکه څنګه چي دذکر سوي علت تائيد دشامي ددي عبارت څخه هم کيږي: لان العادة ان من له امرأة انما يحلف بطلاقها لا بطلاق غيرها الخ (۴) نو دذکر سوي سړي پرښځه باندي دری طلاقه په دي صورت کي واقع سوه او دا قول دده چي ما دخوښيني نيت کړی وو قضاءً معتبر نه دی. (خو ديانةً به يي تصديق کيږي (۵) ظفير).

---

(۱) ردالمحتار باب الصريح ج۲ ص۵۹۱. ط. س. ج۳ ص۲۴۸. ظفير

(۲) ايضا ج۲ ص۵۹۵. ط. س. ج۳ ص۲۴۸. ظفير

(۳) ردالمحتار باب الصريح ج۲ ص۵۹۱. ط. س. ج۳ ص۲۴۸. ظفير

(۴) ايضا ج۲ ص۵۹۱. ط. س. ج۳ ص۲۴۸. ظفير

(۵) لو قال امرأة طالق او قال طلقت امرأة ثلاثا وقال اعن امرأتي يصدق آه (ايضا ج۲ ص۵۹۱ ط. س. ج۳ ص۲۴۸). ظفير

ښځې ته يې څو ځله طلاق ورکی خو اوس منکر دي او شاهد دطلاق شاهدي ورکوي نوڅه حکم دی؟ **سوال**: (۴۲۲) زید خپلي منکوحي ته په حضور دمور اوپلار او یوي خپلوي لرونکي ښځي کي څو ځله طلاق ورکی نو اوس میړه رجوع کولای سي اوکه نه؟ اوس هغه سړی دطلاق څخه انکار کوي خو شاهدان دطلاق شاهدي ورکوي نو په دي صورت کي څه حکم دی؟

جواب: که میړه دری ځله دطلاق لفظ ویلي وي نو ښځه یې مطلقه ثلاثه سوه رجوع په دي کي صحیح نه ده او بې له حلالي داول میړه سره نکاح نه سي کولی (۱) خوکه میړه دطلاق څخه انکار کوي نو ددوو سړو یا یوه سړی او دوو ښځو (چي ثقه او لمونځ ګذار وي) په شهادت سره طلاق ثابتیږي او دمور او پلار شاهدي معتبره نه ده. (۲)

ته پر موږ حرامه یې تاته طلاق دی دری طلاقه دی ددي جملې په ویلو سره کم طلاق واقع کیږي؟ **سوال**: (۴۲۳) زید خپلي ښځي ته په دي الفاظو طلاق ورکی چي ته پرموږ حرامه یې اوتاته طلاق دی او بیایي وویل تاته دری طلاقه دي نو په دي صورت کي به کم یو طلاق واقع وي؟

جواب: قال فی الدرالمختار الصریح یلحق الصریح والبائن الخ (۳) نو ددي څخه معلومه سوه چي په دي صورت کي دحرام دلفظ څخه وروسته چي بائن دی صریح طلاق لاحقیږي او دده پرښځهٔ دری طلاقه واقع کیږي.

دطلاق څخه وروسته بیا نکاح کول غواړي، نو څه حکم دی؟ **سوال**: (۴۲۴) محمد بخش خپلي ښځي ته طلاق ورکی لکه څنګه چي ددویمي سپاري په څوارلسمه رکوع کي ارشاد دی اوس دواړه ښځه او میړه سره راضي سوه او نکاح کول غواړي دسورهٔ بقره د ۳۰ - ۲۹ رکوع مطابق خو موږ نه پوهیږو، نو په دي صورت کي څه حکم دی؟

جواب: دمحمد بخش پر ښځه په دي صورت کي دری طلاقه واقع سوه اوپه دریو طلاقو کي بې له حلالي داول میړه سره ددي ښځي نکاح کول صحیح نه دي لکه څنګه چي ددویمي پاري په بله رکوع کي د: الطلاق مرتان، څخه وروسته: فان طلقها فلا تحل له

(۱) وان کان الطلاق ثلثا فی الحرة او ثنتین فی الامة لم تحل له حتی تنکح زوجا غیره نکاح صحیحا ویدخل بها ثم یطلقها او یموت عنها (هدایه باب الرجعة فصل فیما تحل به المطلق ج۲ ص۳۷۸). ظفیر

(۲) ونصابها لغیره من الحقوق سواء کان الحق مالا او غیره کنکاح وطلاق الخ رجلان او رجل وامرأتان (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار کتاب الشهادات ج۴ ص۵۱۵ - ۵۱۲. ط. س. ج۵ ص۴۶۵). ظفیر

(۳) والفرع لاصله الخ وبالعکس للتهمة (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب القبول وعدمه ج۴ ص۵۲۷. ط. س. ج۵ ص۴۷۸). ظفیر

من بعد حتی تنکح زوجا غیره (۱) مذکور دی اوپه شامي کي دي: وکذا بکلمة واحدة بالأولی الی ان قال وقد ثبت النقل عن اکثرهم صریحا بایقاع الثلاث ولم یظهر لهم مخالف فما ذا بعد الحق الا الضلال الی اخر ما قال ملخصا من فتح القدیر (۲).

په لاندي پوښتل سوی صورت کی څه حکم دي؟ سوال: (۴۲۵) یو سړي دی چي پلرونه او نیکونه یي مسلمان وه په شهادتینو شاهدي ورکوي او همیشه داخترونو لمانځه ته اوکله په پنځه وخته جمع کي هم شریکیږي اداء دروژي او دقرباني علی وجه الکمال کوي او دمسلمانانو سره خوراك څیښاك ناسته پاسته او راکړه ورکړه لري دتصدیق خلاف عمل لکه په اختیار سره قرآن پاك په قاذوراتو کي غورزول هم دده څخه نه دي ښکاره سوي دکلي خلګ دی دپخوا څخه مسلمان ګڼي نو په شریعت کي داسړی مسلمان دی اوکه کافر؟ موصوف په صحیح او سالم حالت کي خپلي ښځي ته دری طلاقه ورکړل اوبي له تحلیله نکاح کول غواړي اوپه اقتضاء دښځي مسلمانانو ته وایي چي زه ددي څخه مخکي مسلمان نه وم اوس ما او زما ښځه مسلمان کړی او ښځه بي تحلیله زما په نکاح کي راکړئ دتحلیل حاجت نسته څکه چي زه مسلمان نه وم نو دمسلمانانو طلاق چي حسن احسن بائن او مغلظ دی زما په حق کي به څنګه وکارول سي نو دده دا قول چي مخکي ددي څخه مسلمان نه وم شرعا معتبر دی او که نه؟ پراول تقدیر چي کله ښځه او میړه دنوی سره اسلام راوړي نو نکاح ددوي بي له تحلیفه جائزه ده اوکه نه؟

جواب: ظاهره ده چي ذکر سوی سړي ددي څخه وړاندي مسلمان وو او شریعت پرده داسلام حکم کړي وو نو دده قول چي ددي څخه وړاندي زه مسلمان نه وم لغو دي او غلط دي یا محمول دي پرنفي دکمال اوکله چي ذکر سوي سړي داسلام په حالت کي چي دده دافعالو څخه ظاهر وو دری طلاقه خپلي ښځي ته ورکړي دي ښځه یي مطلقه ثلثه وګرځیده بي له تحلیله به ددي سره نکاح جائزه نه وي قال الله تعالی: فان طلقها فلا تحل له من بعد حتی تنکح زوجا غیره، الآیه (۳) وفی الدرالمختار لاینکح مطلقة بها ای بالثلث الخ حتی یطأها غیره بنکاح صحیح نافذ الخ (۴) وفی کتاب الصلاة منه ویحکم باسلام فاعلها الخ قال علیه الصلاة والسلام من صلی صلاتنا واستقبل قبلتنا فهو منا،

(۱) الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب الکنایات ج۲ ص۶۴۵. ط. س. ج۳ ص۳۲۰ مطلب الصریح یلحق الصریح والکنایة. ظفیر

(۲) ردالمحتار کتاب الطلاق ج۲ ص۵۷۷ ط. س. ج۳ ص۲۳۳. ظفیر

(۳) سورة البقرة رکوع (۲۹). ظفیر

(۴) الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب الرجعة ج۲ ص۷۳۹. ط. س. ج۳ ص۴۰۹. ظفیر

الحديث شامي (١) ص۱۳۵ جلد اول، اوکه دده دي قول ته چي وړاندي ددي څخه مسلمان نه وم في الحال دارتداد کلمه وويل سي نو بيا يي هم ښځه مطلقه ثلثه سوه ځکه چي ده في الواقع داسلام په حالت کي دری طلاقه ورکړي وه او وروسته ددي څخه په ذکر سوي قول مرتد سو العياذ بالله، داسلام دتجديده څخه وروسته بي له حلالي دده سره نکاح حلاله نه سوه: لان حيلولة الردة لا ترفع حکم الطلاق قال في رد المحتار في اخر باب الرجعة لان الردة واللحاق والسبي لم تبطل حکم الظهار واللعان کما لا تبطل حکم الطلاق الخ (٢).

په لاندېنی صورت کی دری طلاقه پردواړو باندي واقع سوه: سوال: (۴۲۶) دزيد دوې ښځي دي آمنه او فاطمه زيد فاطمي ته په غصه کي وويل تاسو دواړو ته به طلاق درکړم بيايي څه وخت وروسته وويل يو دوه طلاقه درکوم بيا يي څه وخت وروسته وويل چي تاسو ته مي يعني دواړو ته مي يو دوه دری طلاقه درکړل دزيد اخري کلام دطلاق انشاء ده اوکه اخبار کاذب عن الطلاق دی اوطلاق پردواړو واقع سو اوکه پريوه او رجعي طلاق واقع سو اوکه څه ډول؟

جواب: په دي صورت کي دزيد پردواړو ښځو باندي دری دری طلاقه واقع سوه او هره يوه ددوي به مطلقه ثلاثه وي: قال في الدرالمختار انت طالق او انت حرة وعنی الاخبار کذبا وقع قضاء الا اذا اشهد علی ذلك الخ (٣) واضافيه صريحه ما لم يستعمل الا فيه کطلقتك وانت طالق ومطلقة ويقع بها ای بهذه الالفاظ وما بمعناها من الصريح الخ بلا فرق بين عالم وجاهل وان قال تعمدته تخويفا لم يصدق قضاءً (٤) وفيه ولو نکحها قبل امس وقع الان لان الانشاء في الماضي انشاء في الحال الخ (٥) درمختار، لنډه دا چي دا الفاظ دانشاء دطلاق دي نو ددي وجهي دزيد پردواړو ښځو دری دری طلاقه واقع سوه.

دا ډول طلاق يې ورکی: ماطلاق ورکی يو دوه دری سړي شاهدان سئ، نو څه حکم دی؟

سوال: (۴۲۷) يوه سړي خپلي ښځي ته په غصه کي په دي الفاظو طلاق ورکی ما طلاق ورکی يو دوه دری سړي شاهدان سئ! دطالق دبيان څخه دمتعددو طلاقونو دمعلوميدو دشبهي دازالي لپاره تشريح ورڅخه وغوښتل سوه نو ده وويل چي ديو دوه دری څخه

---

(١) ردالمحتار کتاب الصلوة ج١ ص١٢. ط. س. ج١ ص٣٥٣. ظفير

(٢) ردالمحتار باب الرجعة مطلب حيلة اسقاط عدة المحلل ج٢ ص٧٤١. ط. س. ج٣ ص٤١١. ظفير

(٣) الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب طلاق غير المدخول بها ج٢ ص٦٣٣. ط. س. ج٣ ص٢٩٣. ظفير

(٤) الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب الصريح ج٢ ص٥٩٠ – ٥٩٢. ط. س. ج٣ ص٢٤٧. ظفير

(٥) ايضا ج٢ ص٢٠٧. ط. س. ج٣ ص٢٢٢. ظفير

مراد زما سړي شمیرل وو چي هلته موجود وه دهم دي وجهي مي دريو سړو ته په گوته اشاره هم وکړه نو په دي صورت کي ددي سړي قول شرعا معتبر دی او که نه؟

جواب: په دي صورت کي مابينه ومابين الله ددي سړي قول معتبر دی او دده پرښځه باندي ديوه طلاق حکم کيږي.

په زور سره يوازي طلاق دری واره په وويل سو نوڅه حکم دی؟ **سوال**: (۴۲۸) دهندي نکاح دبکر سره وسوه او دبکر بله منکوحه صغری هم موجوده وه دهندي وارثانو بکر سخت مجبور کی چي يادي دی صغری ته طلاق ورکړي اويا هندي ته نو بکر انکار وکی نو ددي وجهي پربکر دومره جبر وسو چي دي وبيريدی او حواس يي جوړ پاته نه سوه او په هم دي دبي هوښي په حالت کي چي نه صغری موجوده وه اونه هنده اونه يي دصغری نوم واخيستی اونه دهندي، دطلاق لفظ يي شپږ ځله وويلی نو په دي صورت کي پرهنده طلاق واقع سو اوکه پر صغری؟

جواب: دفقهي په کتابونوکي دا تصريح سته چي په زور طلاق اچولو سره هم طلاق واقع کيږي نوکه ميړه وبيرول سو او دځان بيره ورته پيدا سوه او مثلا داسي يي ورته وويل چي فلانی نومي ښځي ته طلاق ورکړه او ده دنوم اخيستو څخه پرته وويل چي ما طلاق ورکی يا طلاق دی او څو ځله يي دا الفاظ وويل مثلا دری ځله يا تر دری ځله زيات نو پرهغه ښځه چي دکمي دنوم په اخيستلو سره يي طلاق ورڅخه اخستی دری طلاقه واقع سوه اگرکه ميړه ددي نوم نه وي اخيستی، کذا فی کتب الفقه (۱).

واده لرونکی سړی خپل ځان ته خطاب وکی او ويی ويل که ستا واده سوی وی نو ستا ښځي ته دری طلاقه، په دي صورت کي څه حکم دی؟ **سوال**: (۴۲۹) زيد خپل ځان ته خطاب وکی او ويي ويل چي ای زيده که ستا واده سوی وي نو ستا ښځي ته دری طلاقه او حال دادی چي دده واده سوی دی اوښځه يي سته نو په دي صورت کي طلاق واقع سو اوکه نه؟

جواب: په دي صورت کي دزيد پرښځه دری طلاقه واقع سوه ځکه چي دزيد دا وينا چي: ای زيده که ستا واده سوی وي نو ستا ښځي ته دری طلاقه، او دا امر محقق دی ځکه چي دده واده سوی دی او دفقهي په کتابونو کي ليکلي دي چي تر يوه محقق امر پوري دطلاق په معلق کولوسره طلاق منجز کيږي يعني فورا طلاق واقع کيږي په الدرالمختار

---

(۱) ويقع طلاق کل زوج بالغ عاقل الخ ولو عبدا او مکرها فان طلاقه صحيح لا اقراره بالطلاق (درمختار) فان طلاقه صحيح ای طلاق المکره الخ وفی البحر ان المراد الاکراه علی التلفظ بالطلاق (ردالمحتار کتاب الطلاق ج۲ ص۵۷۹. ط. س ج۳ ص۲۵۳). ظفير

باب التعليق کي دي چي: فالمحقق کإن کان السماء فوقنا تنجيز. [1]

په يوه مجلس کی دری طلاقه پخوا يو وو اوس ددی حديث ناسخ کم يو دی؟ سوال: (۴۷۰) دحضرت ابوبکر صديق او حضرت عمر فاروق رضی اللہ عنہما په زمانه کي دا دستور وو چي که چا به په يوه مجلس کي دری طلاقه ورکړل نو هغه به يو طلاق ګڼل کيدی اوس تاسو دا حديث منسوخ ليکلی دی ددي ناسخ کم حديث دی؟

جواب: ددي ناسخ اجماع ده چي تائيد يي په نصوصو سره سوی دی او ددي تفصيل دي په فتح القدير کي وکتل سي. [2]

په يوه مجلس کي ددرو طلاقو په باره کي يوه سړي وويل چي حضرت عمر رضی اللہ عنہ سياسي حکم قائم کی نوځه حکم دی؟ سوال: (۴۷۱) دنبي کريم ﷺ او حضرت ابوبکر صديق رضی اللہ عنہ او حضرت عمر رضی اللہ عنہ په زمانو کي دستور وو چي چابه په يوه ځل دری طلاقه ورکول نودا به يو طلاق ګڼل کيدی، خو حضرت عمر رضی اللہ عنہ درې قائم کړه، زيد وايي چي حضرت عمر رضی اللہ عنہ حکم شرعي نه وو قائم کړی بلکه سياسي حکم يي قائم کړی وو نو دداسي ويونکي څه حکم دی؟

جواب: کم مسلمان چي داصحابو داجماع او دحضرت عمر رضی اللہ عنہ دفتوی په باره کي داسي وايي نوهغه جاهل او ګمراه دی حضرت عمر رضی اللہ عنہ دشرعي نصوصو پربناء داحکم کړی وو او پردي باندي دصحابهٔ کرامو رضی اللہ عنہم اجماع دصحيح ماخذ دوجوده پرته څرنګه کيدای سي په شامي کي دي: قال في الفتح بعد سوق الاحاديث الدالة عليه الی ان قال وقد ثبت النقل عن اکثرهم صريحا بايقاع الثلث ولم يظهر لهم مخالف فماذا بعد الحق الا الضلال الخ [3] ددي عبارت څخه واضحه ده چي حضرت عمر رضی اللہ عنہ شرعي حکم نافذ کړی دی چي پرهغه باندي صحيح احاديث دلالت کوي او ددي حکم په هغه وخت کي په اصحابو کي يو هم مخالف نه وو، نو دا عين حکم شرعي دی ددي وجهي څخه صاحب دفتح القدير په آخرکي فرمايي: فماذا بعد الحق الا الضلال، يعني حق ددريو وقوع ده او چي څوك ددي اجماع څخه خلاف ورزي کوي هغه ګمراه دی.

دغضب په حالت کی دمولانا عبد الحی رحمہ اللہ دفتوی په اړوند پوښتنه: سوال: (۴۷۲) ستاسو فتوی نمبر (۴۵۴) ترلاسه سوه ستا جواب ډير ښه دی خو مولانا عبد الحی رحمہ اللہ په فتاوی عبد الحی کي فرمايي:

---

[1] الدرالمختارعلی هامش ردالمحتار باب التعليق ج۲ ص۶۷۹. ط. س. ج۳ ص۳۴۳ مطلب بتعليق الطلاق. ظ
[2] وګوری: فتح القدير کتاب الطلاق ج۳ ص۲۵ مکتبه حبيبيه کوئټه ج۳ ص۳۲۹. ظفير
[3] ردالمحتار کتاب الطلاق ج۲ ص۵۷۶. ط. س. ج۳ ص۲۳۳. ظفير

(پوښتنه) زيد خپلي ښځي ته دغضب په حالت كي وويل ما طلاق دركى ما طلاق دركى په داسي درى ځله ويلو سره طلاق واقع كيږي اوكه نه؟ كه په حنفى مذهب كي واقع وي اوپه شافعى مذهب كي نه وي، نو په داسي صورت كي حنفى لره په شافعى مذهب عمل كول جائز دى اوكه نه؟

جواب: په دي صورت كي دحنفيه وو په نزد درى طلاقه واقع كيږي او دتحليله پرته نكاح صحيح نه ده خوكه دضرورت په وخت كي ددي ښځي جلا كيدل ده ته سخت وي او دزيات فساد احتمال وي نوكه ديو بل امام تقليد وكړي څه باك نسته، ددي نظير نكاح دزوجى دمفقود الخبر او عدت دممتدة الطهر موجود دي چي حنفيانو دضرورت په وخت كي دامام مالك رحمه الله په قول عمل كول صحيح ګڼلي دي. فتاوى عبدالحى رحمه الله ص **۱۵۳**. آيا دا مسئله صحيح ده اوكه غلطه؟

جواب: خداى بخښلي مولانا عبدالحى رحمه الله په خپله ليكلى دي چي دحنفيانو په نزد بي له حلالي نكاح داول ميړه ددي مطلقى ښځي سره نه سي كيدى او دبل يوه امام مذهب يي ددي خلاف نه دى نقل كړى چي دفلانى امام په نزد حلاله ضروري نه ده بلكه دمفقود الخبر دښځي مسئله او ممتدة الطهر مسئله يي ليكلي ده نوپه دي دواړو مسئلو كي احنافو فقهاوو ليكلي دي چي دامام مالك رحمه الله په مذهب دي عمل وسي خو په مطلقه ثلاثه كي دحلالي دنه ضرورت قول ديوه امام مذهب هم مولانا مرحوم نه دى نقل كړي چي دچا مذهب دى او دچا تقليد دي وسي اصل دادى چي په دي مسئله كي په قطعي نص سره حلاله ثابته ده اوپه شامي كي دي: وذهب جمهور الصحابة والتابعين ومن بعدهم من ائمة المسلمين الى انه يقع الثلث الخ، (۱) په فتح القدير كلي ليكلي دي: وقد ثبت النقل من اكثرهم صريحاً بايقاع الثلث ولم يظهر لهم مخالف فما ذا بعد الحق الا الضلال ومن هذا قلنا لو حكم حاكم بانها واحدة لم ينفذ حكمه لانه لا يسوغ الاجتهاد فيه فهو خلاف بلا اختلاف الخ (۲) نو معلومه سوه چي په دي مسئله كي چاته هم خلاف كول جائز نه دي او داجماع څخه وروسته هيڅوك هم ددي مسئلي مخالف پاته نه سو او چي دچا خلاف وو هغه اول وو بيا ټولو په اتفاق سره په دي صورت كي ددريو طلاقو حكم كړى دى او دغير مقلدينو جماعت چي په دي زمانه كي دقطعى نص او دبزرګانو داجماع خلاف كوي هغه په صريحه ګمراهي كي واقع دي لكه څنګه چي دفتح القدير دصاحب امام ابن الهمام څخه منقول سوه، حاصل داچي په دي مسئله كي محققينو

(۱) ردالمحتار كتاب الطلاق ج۲ ص۵۷۲. ط. س. ج۳ ص۲۳۳. ظفير
(۲) ايضا ج۲ ص۵۷۷. ط. س. ج۳ ص۲۳۳. ظفير

احنافو لکه امام ابن الهمام تصريح کړي ده چي دوقوع ددريو طلاقو او دحلالي دضرورت په هکله دچا اختلاف معتبر نه دی اوپردي اجماع سويده او ددي خلاف کول خلاف دحق کول دي چي عيني گمراهي ده.

په يوه مجلس کی يې دری طلاقه ورکړل، نوڅه حکم دی؟ **سوال:** (۴۷۳) زيد خپلي ښځي ته په جلسه واحده کي دری طلاقه فوري ورکړه دامام اعظم رحمه الله په مذهب زيد ته داښځه بي له تحليله نه سي حلاليدای خو دذکر سوي ښځي دخپل ميړه څخه جلا کيدل سخت دي دجدايي په صورت کي دډيرو مفاسدو غالب گمان دی نو په داسي صورت کي به زيد ته احناف دابن عباس رضی الله عنه او درکانه دحديث مطابق درجوع حکم ورکړي اوکه نه؟ په داسي حال کي چي ددريو فوري طلاقو متعلق دصحابه کرامو رضی الله عنهم دزماني څخه اختلاف راروان دی علامه ابن رشد په بداية المجتهد ونهاية المقتصد کي وروسته له بيانه دمذاهبو ليکلي دي: وکان الجمهور غلبوا حکم التغليظ فی الطلاق سداً للذريعة ولکن تبطل ذلك الرخصة الشرعية والرفق المقصود فی ذلك اعنی قوله تعالی: لعل الله يحدث بعد ذلك امراً [1] اوپه التعليق المغنی لسنن الدارقطنی کي مصنف دامسئله په وضاحت سره ليکلي ده: وهو هذه قال شيخ الاسلام الحافظ ابن الحجر واذا طلق ثلاثا مجموعة وقعت واحدة وهو منقول عن ابن ابی طالب وابن مسعود وعبدالرحمن بن عوف والزبير نقل ذلک ابن مغيث فی کتاب الوثائق له وعزاه لمحمد ابن وضاح ونقل الغنوی ذلک عن جماعة من مشائخ قرطبة کمحمد بن نقی مخلد ومحمد بن عبدالسلام الخشنی وغيرهما ونقله ابن المنذر عن اصحاب ابن عباس رضی الله عنهما کعطاء وطاؤس وعمرو بن دينار ويتعجب من ابن التين حيث جزم بان لزوم الثلاث لا اختلاف فيه وانما الاختلاف فی التحريم مع ثبوت الاختلاف کما تری انتهی کلام الحافظ وقال الحافظ ابن القيم فی اعلام الموقعين عن رب العلمين وهذا خليفة رسول الله صلی الله عليه وسلم والصحابة کلهم معه فی عصره وثلث سنين من عصر عمر علی هذا المذهب فلو عدهم العاد باسمائهم واحداً واحداً انهم کانوا يرون الثلاث واحدة اما بفتوی الخ او اقرار اوسکوت ولهذا ادعی بعض اهل العلم ان هذا الاجماع قديم ولم تجتمع الامة ولله الحمد علی خلافه بل لم يزل فيهم من يفتی به قرنا بعد قرن والی يومنا هذا فافتی به حبر الامة عبدالله بن عباس کما رواه حماد ابن زيد عن ايوب عن عکرمة عن ابن عباس اذا قال انت طالق ثلاثا بضم واحدة وافتی ايضا بالثلاث افتی بهذا وهذا وافتی بانها واحدة الزبير بن العوام وعبدالرحمن بن عوف حکاه عنهما ابن

---

[1] بداية المجتهد کتاب الطلاق ج۲ ص۵۸. ظفير

وضاح وعن علی وابن مسعود روايتان كما عن ابن عباس واما التابعون فافتى به عكرمة رواه اسمعيل ابن ابراهيم عن ايوب عنه وافتى به طاؤس واما تابعوا التابعين فافتى به محمد بن اسحق حكاه الامام احمد وغيره عنه وافتى به خلاس بن عمرو والحارث العكلی واما اتباع تابعی التابعين فافتى به داود بن علی واكثر اصحابه حكاه عنهم ابن الغلس وابن حزم وغيرهما وافتى به بعض اصحاب مالک حكاه التلمسانی شرح التفريع لابن حلاف قولاً للبعض المالكية وافتى به بعض الحنفية حكاه ابوبكر عن محمد بن مقاتل وافتى به بعض اصحاب احمد حكاه شيخ الاسلام ابن تيميه عنه قال وكان الجد يفتي به احيانا انتهى كلامه وقال ابن القيم فی اغاثة اللهفان واما اقوال الصحابة فيكفي كون ذلک فی عهد الصديق ومعه جميع الصحابة بل قد قال بعض اهل العلم ذلک اجماع قديم وانما حدث الخلاف فی زمن عمر فقد صح انهم كانوا فی زمن رسول الله ﷺ وابی بكر وصدراً من خلافة عمر يوقعون علی من طلق ثلاثا واحدة واما دعوی الاجماع المتأخر فمردود لانه لم يزل الاختلاف وقد اختار داود واصحابه ان الثلاث واحدة وممن حكی الخلاف الطحاوی فی كتابه اختلاف العلمآء وكتاب تهذيب الاثار وابوبكر الرازي فی احكام القرآن وحكاه ابن المنذر وحكاه ابن حزم ومحمد بن نصر المروزی والمادری فی كتاب العلم وحكاه عن محمد بن مقاتل من اصحاب ابي حنيفه وهو احد القولين فی مذهب ابي حنيفة رحمه الله وحكاه التلمسانی فی شرح التفريع قولا لمالک وحكاه شيخ الاسلام ابن تيميه عن بعض اصحاب احمد وهو اختياره انتهى كلامه كذا في عون المعبود ([1]) حاشيه سنن ابي داؤد.

([1]) وګورى التعليق المغنى على الدارقطنى كتاب الطلاق ص۴۴۴ – ۴۴۵، دا ټول بحث داهل حديثو (سلفيانو) عالم مولانا شمس الحق عظيم ابادي په خپل حمايت كي ليكلي دي او دصريح حديث نبوي رد يي كړی دی ددي دجواب لپاره وګورئ دحضرت الاستاذ مولانا اعظمي مدّ ظله كتاب (الاعلام المرفوعه) او (الازهار المربوعة) چي په دي كي يي دامسئله په واضح طور باندی ثابته كړيده چي ائمه اربعه ددريو طلاقو قائل دي اوپه حديث نبوي سره ددي تائيد كيږي او احاديث په بخاري مسلم دارقطنى او تمامو كتابونو دحديثونو كي راغلي دي صاحب دفتح القدير ليكلي دي: وذهب جمهور الصحابة والتابعين ومن بعدهم من ائمة المسلمين الى انه يقع ثلاث ومن الادلة فی ذلك ما فی مصنف ابن ابی شيبه والدارقطنی في حديث ابن عمر المتقدم قلت يا رسول الله أرأيت لو طلقتها ثلاثا قال إذا قد عصيت ربك وبانت منك امرأتك وفي سنن أبي داود عن مجاهد قال كنت عند ابن عباس فجاءه رجل فقال إنه طلق امرأته ثلاثا قال فسكت حتى ظننت أنه رادها إليه ثم قال أيطلق أحدكم فيركب الحموقة ثم يقول يا ابن عباس يا ابن عباس فإن الله عز وجل قال (ومن يتق الله يجعل له مخرجا) عصيت ربك وبانت منك امرأتك وفي موطأ مالك بلغه أن رجلا قال لعبد الله ابن عباس إني طلقت امرأتي مائة تطليقة فماذا ترى علي فقال ابن عباس طلقت منك ثلاثا وسبع وتسعون اتخذت بها آيات الله هزوا وفي الموطأ أيضا بلغه أن رجلا جاء إلى ابن مسعود فقال إن طلقت امرأتي ثماني تطليقات فقال ما قيل لك فقال قيل لي بانت منك قال =

مولانا عبدالحی صاحب په عمدة الرعايه کي فرمايلي دي: القول الثانی أنه اذا طلق ثلثا تقع واحدة رجعية وهذا هو المنقول عن بعض الصحابة وبه قال داؤد الظاهری واتباعه وهواحد القولين فی لمالك ولبعض اصحاب احمد.

جواب: ددي تحقيق امام ابن همام په فتح القدير کي کړی دی (۱) او وقوع ددريو طلاقو يي ثابته کړيده او ددي خلاف يي رد کړی دی اوپه نصوصو قطعيه وو سره په دي صورت کي حلاله ثابته ده بی له حلالي به مطلقه ثلاثه داول ميړه لپاره حلاله نه وي هذا هو الحق فماذا بعد الحق الا الضلال. فقط

دوه طلاقه يي ورکړه اونکاح يې وکړه اوه کاله وروسته يي بيا دوه طلاقه ورکړه او نکاح يي وکړه نو څه حکم دی؟ **سوال**: (۴۷۴) يوه سړي خپلي ښځي ته دوه طلاقه ورکړه او بيايي نکاح وکړه او اته کاله وروسته يي بيا دوه طلاقه ورکړه او بيايي نکاح وکړه نو آيا داحکم په شرع شريفه کي جائز دی اوکه نه؟

جواب: په دي صورت کي داښځه مطلقه ثلثه سوه اوکله چي په مينځ کي دي ښځي دبل چا سره نکاح نه ده کړي نو ددي وجهي اولني دوه طلاقه نه دي ختم سوي ځکه چي ختميدل داولني طلاق په دويم ميړه کولو سره کيږي. کما فی الدرالمختار: والزوج الثانی يهدم الخ مادون الثلاث ايضا ای کما يهدم الثلث اجماعًا الخ (۲) نوچي کله په مينځ کي دويم ميړه رانغی نو مخکي دوه طلاقه ختم نه سوه اوپه وروستنيو دوو طلاقو کي چي يو طلاق دهغو سره يوځای سي دری طلاقه به سي اوچي کله ښځه مطلقه ثلاثه سوه نو بي له حلالي به ددي سره نکاح صحيح نه وي او هغه نکاح چي وروسته يي کړيده هغه باطله ده: کما فی الدرالمختار لا ينکح مطلقة بها ای بالثلث الخ حتی يطأها غيره الخ بنکاح نافذ الخ (۳).

يوه سړي فال وکتی او ويې ويل چې طلاق ورکړه ما هم دهغه په ذريعه وليکل او ومي ليږل نوڅه حکم دی؟ **سوال**: (۴۷۵) يو کال وسو چي ما خپلي ښځي ته دغصي په وخت کي

= صدقوا هو مثل ما يقولون وظاهره الإجماع على هذا الجواب وفي سنن أبي داود وموطإ مالك عن محمد بن إياس بن البكير قال طلق رجل امرأته ثلاثا قبل أن يدخل بها ثم بدا له أن ينكحها فجاء ليستفتي فذهبت معه فسأل عبد الله بن عباس وأبا هريرة عن ذلك فقالا لا نرى أن تنكحها حتى تنكح زوجا غيرك الخ (فتح القدير، كتاب الطلاق ج۳ ص۲۵). ظفير

(۱) وګوری: فتح القدير كتاب الطلاق ج۳ ص۲۵ مكتبه حبيبيه كوټته ج۳ ص۳۲۹. ظفير

(۲) الدرالمختار على هامش ردالمحتار باب الرجعة مطلب مسئلة العدم ج۲ ص۷۴۲. ط. س. ج۳ ص۴۱۸. ظ

(۳) الدرالمختار على هامش ردالمحتار باب الرجعة مطلب فی العقد على المباينة ج۲ ص۷۳۹. ط. س. ج۳ ص۴۵۹. ظفير

طلاق دخط په ذريعه وليکي اووطن ته مي روان کی دطلاق ورکولو صورت دادی چي زه بالکل جاهل سړی یم پرما باندي هروخت دالله پاك بيره غالبه وي په دي وجه چي دابنځه زما منکوحه ده ماهم په دي پريشانی کي خيال وکی چي دقراني فال په ذريعه فيصله کول مناسب دي نو حافظ قران ته مي ذکر وکی چي زما دښځي متعلق فال وګوره همدا وو چي حافظ صاحب فال وکتی اوماته يي وويل چي: ته خپلي ښځي ته طلاق ورکړه ددوی په وينا ما ددوی سره په خط کي مکرر دری ځله طلاق وليکی او ومي ليږی نو په دي صورت کي طلاق واقع سواوکه نه؟ اوزه ددي سره دوهم وارنکاح کولای سم اوکه نه؟

جواب: داخو ددي سړي غلطي او کم عقل توب وو چي فال يي وکتی اوتاته يي دطلاق مشوره درکړه داسي فال ايستل اوکتل شرعا هيڅ شی نه دي او نه يو عالم داسي کولای سي نه غير عالم خو ستا پرښځه دری طلاقه واقع سوه اوس بي له حلالي ددي سره دوباره نکاح نه سي کولای. (۱)

ددريو طلاقو وروسته بيا دښځي دميړه سره اوسيدل څنګه دي؟ **سوال**: (۴۷۲) دری کاله وسوه چي دزيد او دهندي نکاح سوي وه اوس اته مياشتي وسوي چي دهندي پلار جرګه راوستله او زيدته يي وويل چي زموږ لور زموږ کور ته راپريږده او هنده نه تلله په دي حالت کي زيد وويل که وايي نو طلاق به ورکړم بيا هنده دهغي پلار خپل کورته بوتلله دهندي دتللو څخه وروسته دهندي پلار زيد ډير وبيروی چي زما لور ته طلاق ورکړه کني مړ به دي کړم بيا يوه ورځ دعمر کورته دهندي پلار او دتره زوی راغلل او زيد ته يي وويل هندي ته طلاق ورکړه کني هنده به وتښتي اوکه ته خپل ځان ژغورل غواړي نو هندي ته طلاق ورکړه زيد دعمر او دهندي دپلار او داکا دزوی په مخ کي شپږ ځله وويل چي طلاق مي ورکی هندي چي کله واوريدل چي ماته يي طلاق راکی نو هنده پلارته ډيره غصه سوه دطلاق دورکولو څخه دوه مياشتي وروسته يي بيا موقع پيدا کړه او هنده دزيد کره راغله اواوس دزيد کره ده نو آيا دوهمه نکاح تړلی سي او که نه؟

جواب: په دي صورت کي پرهنده باندي دری طلاقه واقع سوي دي بي له حلالي هنده دزيد لپاره دوباره نه سي حلاليدلای او ددی دحلالي بغير دزيد سره نکاح نه سي کيدای البته دحلالي څخه وروسته هنده دزيد سره نکاح کولای سي او طريقه دحلالي داده چي هنده دطلاق دعدت څخه وروسته (که غيرحامله وي اوحيض ورته راځي نودری حيضونه

(۱) ولو قال للکاتب اکتب طلاق امرأتي کان اقرارا بالطلاق وان لم يکتب (ردالمحتار کتاب الطلاق ج۲ ص۵۸۹. ط. س. ج۳ ص۲۴۲ مطلب فی الطلاق بالکتابة وان کان الطلاق ثلث فی الحرة الخ لم تحل له حتی تنکح زوجا غيره (هدايه فصل فيما تحل به المطلقة باب الرجعة ج۲ ص ۷۸۳). ظفير

يي عدت دی) ديو بل سړي سره نكاح وكړي او دا دويم ميړه دوطي څخه وروسته هندي ته طلاق وركړي بيابه هنده دطلاق عدت تيره كړي دعدت دتيريدو څخه وروسته كه دزيد سره نكاح وكړي نو جائزه به وي: قال الله تعالى: فان طلقها فلا تحل له من بعد حتى تنكح زوجا غيره، الآيه (١) اوپه پوښتنه كي اګركه اضافت الى الزوجه صراحةً نسته خو فقهاوو تصريح كړيده چي صراحتا اضافت كول ضروري نه دی: كما في الشامي: ولا يلزم كون الاضافة صريحة في كلامه الخ (شامي ج٢ ص٥٩٠) كه په داسي صورت كي چي په هغه كي اضافت دطلاق الى الزوجة صراحةً نه وي ميړه دا ووايي چي زما نيت او اراده دخپلي ښځي نه وه ديوي بلي ښځي يا دسړي خيال مي كړی وو او دهغو په باره كي مي دا ويلي وه چي ديته طلاق دی نودا قول دده ديانةً معتبر دی اګر كه قاضي به يي په سبب دظاهري قرائنو نه مني: قال الشامي ناقلا عن البحر لو قال امرأة طالق او قال طلقت امرأة ثلاثا وقال لم اعن امرأتي يصدق (الخ شامي ج٢ ص٥٩١) والله اعلم. فقط

دری طلاقه يي وركړل په دي ويلو سره طلاق واقع سو اوكه نه؟ **سوال:** (۴۷۷) يوه سړي دشپي پردولس بجي دكلي يو عالم خپل كورته راوستی اوورته يي وويل چي: ما خپلي ښځي ته دری طلاقه وركړل تاسو مهرباني وكی ددي ورور راوغواړی مولوي صاحب وويل څه وايي؟ ده وويل ته زما په خبره باور نه كوي دشريعت محمدي مطابق ماخپلي ښځي ته دری طلاقه وركړل كه نه وي سوي نو ووايه چي څه وكړم اوڅه ووايم مولوي صاحب بس راغلی او داخبره يي ښكاره نه كړه تردي چي كله يي دطالق دپلار سره څه خبري ددنيا راغلي نو په دي دوران كي مولوي صاحب اظهار دطلاق وكی او مطلقي ښځي دوو ښځوته ويلي وه چي ماته يي طلاق راكړی وو نو په دي صورت كي مطابق دشرعي شريفي پردي طلاق واقع سو او كه نه؟

جواب: دری واړه طلاقه دده پرښځه واقع سوي دي (٢) نور دقاضي په مخ كي دثبوت لپاره په هغه صورت كي چي ميړه دطلاقه منكر وي دوو عادلو شاهدانو ته ضرورت دی دوه سړيان يا يو سړي او دوې ښځي، نوكه ذكر سوی مولوي صاحب اودغه دواړي شاهداني عادلان وي نو دميړه انكار معتبر نه دی او حكم دطلاق كيږي او كه ميړه اقرار كوي نو بيا خو دطلاق اثبات ته هم حاجت نسته كما في عامة الكتب المعتبرة (٣).

(١) سورة البقره ركوع ٢٩. ظفير
(٢) ويقع طلاق كل زوج بالغ عاقل ولو تقديرا الخ (الدرالمختار على هامش ردالمحتار كتاب الطلاق ج٢ ص٥٧٩). ظ
(٣) ايضا بها لغيرها من الحقوق الخ كنكاح وطلاق الخ رجلان او رجل وامرأتان (الدرالمختار على هامش ردالمحتار كتاب الشهادات ج۴ ص٥١٥. ط. س. ج٥ ص۴٢٥). ظفير

ما په دريو طلاقو سره هنده پرخپل ځان حرامه کړه په دي ويلو سر پرهنده کم طلاق واقع سو؟ **سوال**: (۴۷۸) زيد دخپلي ښځي هندي په باره کي دا الفاظ وليکل چي: ما په دريو طلاقو سره هنده پرځان حرامه کړه او مراد ليکي دي چي اوس زما دمحمدي شريعت مطابق دهندي سره هيڅ تعلق نسته او چي کله دده څخه پوښتنه وسي چي شريعت محمدي درته معلوم دی نو دی پردي لاعلمی ښکاره کوي چي زه صرف لمونځ او روژه پيژنم په دي هکله دشريعت څه حکم دی؟ بينوا

پردي سوال باندي يوه جواب ورکوونکي دمحمد حيدرالله خان په نامه جواب ليکلی وو چي دهغه لنډيز دادی چي دحضرت عمر ﷺ په زمانه کي به دری طلاقه يو ګڼل کيدل ددي وجه په صورت مسئوله کي پرهنده يو طلاق واقع سو، دمفتي صاحب جواب دا لاندي دی:

جواب: په دي صورت کي دده پر ښځه دری طلاقه واقع سوه او کم خلګ چي ددريو طلاقو وقوع په دي صورت کي نه مني دهغوی په رد کي صاحب دفتح القدير داسي ليکلي دي: اما اولا فإجماعهم ظاهر لانه لم ينقل عن احد منهم انه خالف عمر رضی الله عنه حين امضی الثلث الخ الی انه قال وقد اثبتنا النقل عن اکثرهم صريحا بايقاع الثلث ولم يظهر لهم مخالف فماذا بعد الحق الا الضلال الخ [1]. فقط

په يوه مجلس کي دری طلاقه ورکړل اوس رجوع کول غواړي او دغير مقلد فتوی وراندي کوي، نو څه حکم دی؟ **سوال**: (۴۷۹) زيد خپلي ښځي هندي ته په يوه جلسه کي متواتر دری طلاقه ورکړل اوس دی رجوع کول غواړي دمولوي ثناء الله اونورو فتوی په استدلال کي راوړي نو په داسي صورت کي رجوع کول صحيح دي اوکه نه

جواب: ددريو طلاقو څخه وروسته ښځه مغلظه بائنه ګرځي اوبي له حلالي ددي سره دوهم وار نکاح کول حرام دي ځکه چي په نص داثابت دي او اجماع دامت پردي ده دچا خلاف په دي کي معتبر نه دی او ددي خلاف چي څوك فتوی ورکوي نو هغه فتوی صحيح نه ده او دزيد رجوع خپلي ښځي ته بي له حلالي جائزه نه ده [2]، کما قال الله تعالی: فان طلقها فلا تحل له من بعد حتی تنکح زوجا غيره، الآية [3] قال في الشامي

---

[1] فتح القدير کتاب الطلاق ج۳ ص۲۲ مکتبه حبيبه ج۳ ص ۳۳۰. ظفير

[2] وان کان الطلاق ثلثا فی الحرة الخ تحل حتی تنکح زوجا غيره نکاحا صحيحا ويدخل بها ثم يطلقها او يموت عنها والاصل فيه قوله تعالی: فان طلقها فلا تحل له من بعد حتی تنکح زوجا غيره (هدايه باب الرجعة فصل فيما تحل به المطلقة ج۲ ص۳۷۸). ظفير

[3] سورة البقرة ۲۹. ظفير

وذهب جمهور الصحابة والتابعين ومن بعدهم من أئمة المسلمين الى انه يقع الثلث قال في الفتح بعد سوق الاحاديث الدالة عليه وهذا يعارض ما تقدم (اى من حملها واحدة) واما امضاء عمر الثلث عليهم مع عدم مخالفة الصحابة له وعلمه بانها كانت واحدة فلا يكون الا وقد اطلعو فى الزمان المتأخر على وجود ناسخ او لعلمهم بانتهاء الحكم لذلك الى ان قال وقد ثبت النقل عن اكثرهم صريحا بايقاع الثلاث ولم يظهر لهم مخالف فماذا بعد الحق الا الضلال ومن هذا قلنا لوحكم حاكم بانها واحدة لم ينفذ حكمه الخ (شامي ج۲ ص۴۱۹. (۱)

لا اله الا الله محمد رسول الله يي وويله او سمدستي يي طلاق وركی نوځه حكم دی؟

السوال: (۴۸۰) ما قولكم رحمكم الله فيمن قرأ اولا كلمة (لا اله الا الله محمد رسول الله) ثم قال لزوجته انت طالق ثلاثا متصلا غير منفصلا واتفق العلماء اختلافهم فى وقوع الطلاق وعدمه ان ما يفتى به مولانا انور شاه يسلو كلهم.

الجواب: تطلق زوجته ثلاثا فى هذه الصورة بلا مرية ولا اختلاف معتبر كذا فى المعتبرات قال فى ردالمحتار فى بحث الاستثناء فهذا كما ترى صريح فى ان سبحان الله عقب اليمين فاصل يبطل للاستثناء اما انه استثناء فلم يقل به احد الخ (ص۵۱۲ ج۲) (۲) وايضا فى بحث وقوع الثلث بكلمة واحدة قوله ثلث متفرقة وكذا بكلمة واحدة بالاولى ثم نقل الاجماع على ذلك وقال وقد ثبت النقل عن اكثرهم صريحا بايقاع الثلاث ولم يظهر لهم مخالف فماذا بعد الحق الا الضلال الخ ومن هذا قلنا لو حكم حاكم بانها واحدة لم ينفذ حكمه لانه لا يسوغ الاجتهاد فيه فهو خلاف لا اختلاف الخ. فقط

دری طلاقه لرم، په دې ويلو سره طلاق واقع كيږي او كه نه؟ **سوال:** (۴۸۱) يوه سړي وويل چي درى طلاقه لرم او دده ښځه حاضره نه وه نو خطاب او اشاره مفقوده سوه او يا كه دغه سړی دخپلي ښځي په وجود كي وو ايي چي درى طلاقه لرم خو خطاب او اشاره ونه كړي او نه دښځي نوم واخلي نو په دي صورت كي دښكال عالمان دوې ډلي سوي دي يوه ډله وايي چي دسړي ښځه طلاقه نه ده ځكه چي اضافت معنوى نسته چي شرط دوقوع دطلاق دي او دويمه ډله وايي چي عادتا دده ښځه طلاقه سوه نوپه دي صورت كي ستاسو ښاغلی څه رايه ده او شرعي حكم څنګه دی؟

(۱) ردالمحتار باب الطلاق ج ۲ ص ۵۷۲. ظفير

(۲) ردالمحتار باب التعليق قبيل مطلب لفظ ان شاء الله هل ابطال او تعليق ج۲ ص ۷۰۴. ظفير

جواب: اقول قال الشامي قبيله ويويده مافي البحر لو قال امرأة طالق او قال طلقت امراة ثلاثا وقال لم اعن امرأتي يصدق انتهى (۱) ويفهم منه ان لو لم يقل ذلك تطلق امرأته لان العادة ان من له امرأة الخ (۲) نو دمالم يرد غيرها دلفظ څخه مراد هم دغه دی چي په وړاندي خبره کي يي وويل چي که ميړه په دي صورت کي چي اضافت الى الزوجه نه وي ووايي لم اعن امرأتي يعني ماپه دي طلاقو خپله ښځه نه وه اراده کړي نو دده ښځه نه طلاقيږي اوچي کله يي هيڅ هم نه وي ويلي لکه په پوښتل سوي صورت کي نو بيا دده ښځه طلاقيږي کما قال الشامي ويفهم منه انه لو لم يقل ذلك الخ.

يو طلاق يي ورکی او کله چي په دي اړه وپوښتل سوه نو دهغه حکايت يي وکی نوڅه حکم دي؟ **سوال**: (۴۸۲) زيد خپلي ښځي ته دغصي په حالت کي دطلاق په لفظ طلاق ورکی او يوکال دهغي څخه بيل وو خو دکور څخه يي ونه ايستله او خرچه به يي ورکوله او زيد حلفيه بيان کوي چي زما په طلاق سره صرف طلاق مراد وو بل څه نيت مي نه وو کله چي به ورڅخه په دي اړه پوښتنه وسوه هم دا لفظ به يي وايه نو زيد دخپلي ښځي سره دوباره نکاح او يا هغي ته رجوع کولای سي اوکه نه؟

جواب: که زيد خپلي ښځي ته يو طلاق ورکړی وي يعني يوځل يي لفظ دطلاق ويلی وی او دری ځله يي نه وي ويلي اوبيا چي يي په دي اړه دپوښتني په جواب کي دطلاق کم لفظ ويلی دی په هغه سره دده نيت دهغه وړاندينی طلاق خبر ورکول وي نو په دي صورت کي زيد خپلي ښځي ته په عدت کي دننه بي له نکاح رجوع کولای سي او دعدت څخه وروسته نکاح کولای سي دحلالي ضرورت نسته. (۳) هکذا في کتب الفقه.

په ټوکو يي وويل ښځه مي پرېښودله بيايي وويل طلاق طلاق طلاق نوڅه حکم دي؟ **سوال**: (۴۸۳) زيد عمرته چي دهغه پرسر انګريزي وريښتان دي وويل ته داسي وريښته ساتل پريږده چي ددي په جواب کي عمر ده ته په ټوکه وويل چي ته خپله ښځه پريږده زيد هم په ټوکه کي جواب ورکی چي ځه ما پريښودله چي ددي په اوريدو سره عمر وويل بلکه دری ځله په خپله ژبه لفظ دطلاق ووايه زيد فورا طلاق طلاق طلاق يعني پنځه شپږ ځله لفظ دطلاق ووايه نوطلاق واقع سو اوکه نه؟ اوکه واقع سوی وي نو کم يو؟ او زيد دښځي بيلول نه غواړي؟

---

(۱) رد المحتار کتاب الطلاق ج۲ ص۵۷۷. ط. س. ج۳ ص۲۳۸. ظفير

(۲) رد المحتار کتاب الصريح ج۲ ص۵۹۱. ط. س. ج۳ ص۲۴۸. ظفير

(۳) واذا قال انت طالق ثم قيل له ماقلت فقال قد طلقتها او قلت هی طالق فهی طالق واحدة لانه جواب (ردالمحتار باب طلاق غير المدخول بها ج۲ ص۲۳۲. ط. س. ج۳ ص۲۹۳). ظفير

جواب: په دي صورت كي دزيد پرښځه درى طلاقه واقع سوه اودا ښځه مغلظه بائنه سوه بي له حلالي اوس دزيد په نكاح كي نه سي راتلاى په حديث شريف كي دي: ثلث جدهن جد وهزلهن جد وعدّ صلى الله عليه وسلم منهن الطلاق (۱) وقال الله تعالى: فان طلقها فلا تحل له من بعد حتى تنكح زوجا غيره، الآيه. (۲)

پنځه شپږ ځله يې وويل تاته مي طلاق دركړى دى نو مغلظ طلاق واقع سو: سوال: (۴۸۴) زيد خفه سو اوپنځه شپږ ځله يي په عام مجلس كي دا الفاظ وويل ماتاته طلاق دركى اوزما ستا سره هيڅ كار نسته هنده تنګه سوه او دبكر سره يي دوهمه نكاح وكړه خو اوس بيا زيد دهندي دعوه كوي نو دعوه يي جائزه ده اوكه نه؟

جواب: په دي صورت كي پرهنده درى طلاقه واقع سوه نو كه دى دعدت څخه وروسته دبل سړي سره نكاح كړي وي نودا نكاح صحيح ده او دزيد دعوه باطله ده خوكه دهندي سره دوه معتبر شاهدان نه وي او زيد دطلاقه منكر وي نو بيا دزيد قول معتبر دى. (۳)

ميړه اهل حديث دى اوښځه حنفي، ميړه په يوه وخت كى درى طلاقه وركړل نو اوس دعدت څخه وروسته واده جائز دي اوكه نه؟ سوال: (۴۸۵) زيد اهل حديث دى او هنده دده ښځه حنفي ده زيد ديو څو معززينو په مخ كي خپلي ښځي هندي ته درى طلاقه په يوه وخت كي وركړل دهندي بيان دى چي داحنافو دمسلك مطابق پرما درى طلاقه واقع سوه زه به دوهم عقد وكم په دي صورت كي هندي لره څه كول پكار دي حال دادى چي ددي عدت هم تير سوى دى.

جواب: دهندي قول صحيح دى پردي باندي دحنفي مذهب سره موافق درى طلاقه واقع دي او دا مغلظه بائنه ده. دعدت دتيريدو څخه وروسته ددى دويمه نكاح صحيح ده او دعدت تيريدل دپورتني ليك څخه معلوميږي نو هنده دي بي شكه بله نكاح وكړي هكذا فى كتب الفقه. (۴)

دولس طلاقه يې وركړل نو دعدت څخه وروسته ښځه دويمه نكاح كولاى سي اوكه نه؟ سوال:

---

(۱) عن ابي هريرة ان رسول الله صلى الله عليه وسلم قال ثلث جدهن جد وهزلهن جد النكاح والطلاق والرجعة. رواه الترمذى (مشكوة كتاب الطلاق ص۲۸۴). ظفير

(۲) سورة البقرة ركوع ۲۹. ظفير

(۳) ونصابها لغيرها من الحقوق الخ كنكاح وطلاق الخ رجلان او رجل وامراتان (الدرالمختار على هامش ردالمحتار ج۴ ص۵۱۵). ظفير

(۴) قال لزوجته غير المدخول بها انت طالق ثلاثا الخ وقعن لما تقرر انه متى ذكر العدة كان الوقوع به الخ وان فرق بانت بالاولى ولم تقع الثانية بخلاف المرأة حيث يقع الكل (الدرالمختار على هامش ردالمحتار باب طلاق غير المدخول بها ج۲ ص۲۲۴ – ۲۲۲). ظفير

(۴۸۲) یوه سړي خپلې ښځې ته په تنهایي کې داستهزاء په ډول درې طلاقه ورکړل ښځه یوځل دمور او پلار کورته ولاړه او دیوه عالم څخه یې پوښتنه وکړه عالم وویل دمیړه دانکار په وجه به قضاءً طلاق واقع نه وي خو دیانةً به واقع وی ذکر سوي ښځه دځو وجوهو له امله تر لسوکلو پوري دپلار په کورکې وه ځکه چې که دمیړه کورته ولاړه سم نو دطلاق دوقوع په وجه به زنا کول لازم سي اوځه حصه دمهر دمیړه پرذمه ده او میړه نکاح وکړه دبنې ببره هم ده او دمیړه سره ددواړو دخرچې وس هم نسته نو په ذکر سوي صورت کې دښځې بې اجازته دپلار کورته تلل او دعالم څخه دمسئلې پوښتنه کول او دمهر دنه ورکول کیدو په وجه خپل ځان دمیړه څخه بندول جائزدي اوکه نه؟ او ذکر سوي ښځه دخپلې بنې سره په زور په یوه کور کې ساتل جائز دي او که نه؟ او میړه ته په (امساك بالمعروف) یا (تسریح بالإحسان) باندې عمل کول ضروري دي اوکه نه؟ اوکه ترك دعمل باحد الامرین واجب وي نو پرمیړه به څه لازم وي؟ او په مذهب دشافعي عمل بأحد الامرین کول دسخت ضرورت په وجه حنفي لره جائز دی اوکه نه؟

جواب: په دې صورت کې دده پرښځه درې طلاقه واقع سوه او دیانتا دې ښځې ته دعدت څخه وروسته دویمه نکاح کول صحیح دي خو دطلاق څخه دمیړه دانکار په صورت کې قاضي بې له شاهدي ددوو عادلو شاهدانو حکم دطلاق نه سي کولای (۱) او قاضي چې دوقوع دطلاق حکم نه سي کولاي نو بې له اجازته دمیړه دکوره په تللو باندې حکم دسقوط دنفقې کولاي سي او ښځې ته چې کله دطلاق علم دی نو ددې خپل ځان دمیړه څخه بندول صحیح دي بلکه ضروري دی، بشرح قول درمختار: سمعت من زوجها انه طلقها الخ وینبغي لها ان تهرب منه الخ ج۲ ص۵۴۴، شامي او ښځه داوسیدو لپاره دبیل کور غوښتنه دمیړه څخه کولای سي او دبنې سره داوسیدو څخه انکار کولای سي په درمختار کې دي: وکذا تجب لها السکني في بیت خال عن اهله واهلها الخ ونقل المصنف عن الملتقط کفایة مع الاحماء لا مع الضرائر وفي الشامي فان المنافرة مع الضرائر اوفر الخ (۲) او میړه لره لازم دي چې دالله تعالی دفرمان: فامساك بمعروف او تسریح باحسان (۳)، مطابق خپله ښځه په معروفه طریقه سره وساتي او یادې پریږدی او کالمعلقه دي نه ساتي حاکم دي دی په احد الامرین باندې مجبور کړي خو عند الحنفیة حاکم په خپله تفریق نه سي کولای کما قاله الإمام الشافعي رحمه الله .

---

(۱) ثلاث جدهن جدوهزلهن جد النکاح والطلاق والرجعة، رواه الترمذي (مشکوة کتاب الطلاق ج۲ ص۲۸۴). ظ

(۲) ردالمحتار باب النفقة ج۲ ص۹۱۲ - ۹۱۳. ط. س. ج۳ ص۵۹۹. ظفیر

(۳) سورة البقرة رکوع ۲۸. ظفیر

دوه طلاقه يې ورکړل، کله چې په دې اړه وپوښتل سو ويې ويل درې طلاقه مې ورکړي دي نوڅه حکم دی؟ **سوال**: (۴۸۷) يوه سړي دپنجشنبې په ورځ دوه طلاقه ورکړل دوه درې ورځې وروسته ميړه په دې اړه دپوښتنې په جواب کې وويل مادرې طلاقه ورکړي دي نو په دې صورت کې ځينې عالمان وايي چې درې طلاقه نه واقع کيږي ځکه چې حکايت دمحکي عنه سره موافق نه دی، په دې کې شرعا څه حکم دی؟

جواب: په دې صورت کې دميړه په دوهم وار ويلو سره چې ما درې طلاقه ورکړي دي درې طلاقه واقع کيږي کما صرح به الفقهاء.

درې طلاقونه يې بيل بيل درې ځله ورکړه نوڅه حکم دی؟ **سوال**: (۴۸۸) يوه سړي خپلې ښځې ته طلاق ورکی څو ورځې وروسته يې يو بل طلاق ورکی بيايې لس شل ورځې وروسته بل طلاق ورکی نو په درې واړو طلاقوکې کم طلاق واقع دی؟

جواب: په دې صورت کې درې طلاقه دده پرښځه واقع سوه. (۱)

شاهد وايي درې طلاقه يې ورکړل او ميړه وايي يو طلاق مې ورکی اوبله مې استعفاء ورکړه نو څه حکم دی؟ **سوال**: (۴۸۹) اکثره شاهدان وايي چې شيخ کرامت علی خپلې ښځې ته په دې الفاظو سره چې تاته يو طلاق دوه طلاقه درې طلاقه بائن طلاق ورکی او کرامت علی او يو شاهد وايي چې په دې الفاظو سره يې طلاق ورکی او ويې ويل تاته مې استعفاء درکړه وروسته دباندې راووتل اوويې ويل چې تاته مې طلاق درکی نو اوس داسې يو صورت سته چې بيا دښځې او دخاوند نکاح سره وسي؟

جواب: په دې صورت کې درې طلاقه واقع سوه بې له حلالې هيڅ صورت دجواز دنکاح ثاني داول ميړه سره نسته. هکذا فی کتب الفقه. (۲)

طلاق دوه طلاقه بائن طلاق يې وويل نوڅه حکم دی؟ **سوال**: (۴۹۰) يو سړی وايي چې ماخپلې ښځې ته په دې طريقه طلاق ورکی چې ماتاته يو طلاق دوه طلاقه بائن طلاق درکی او په دې خيال سره چې دده ښځه په دې ويلو سره مطلقه مغلظه سوه او ديته يې جامې او خرڅ هم ورکی دطلاقو شاهد يو سړی او دوې ښځې دا سړی وايي چې ده ددريو طلاقو څخه وروسته بائن لفظ ويلی دی او يوه ښځه وايي چې ددوو طلاقو څخه وروسته يې لفظ دبائن ويلی دی او دويمه ښځه وايي چې ماته هيڅ معلومات نسته چې

(۱) والزوج الثاني يهدم بالدخول فلو لم يدخل لم يهدم اتفاقا مادون الثلاث (الدرالمختار على هامش ردالمحتار باب الرجعة ج۲ ص۷۴۲. ط. س. ج۳ ص....). ظفير

(۲) وان كان الطلاق ثلاثا فی الحرة الخ لم تحل له حتى تنكح زوجا غيره نكاحا صحيحا ويدخل بها ثم يطلقها او يموت عنها (هدايه باب الرجعة ج۲ ص۲۷۸). ظفير

ددوو طلاقو څخه وروسته يي دبائن لفظ ويلى دى او كه ددريو څخه وروسته، نو په دي صورت کي څه حکم دی؟

جواب: چي كله په خپله ميړه ددريو طلاقو اقرار كوي او دايي مطلقه مغلظه وګڼله او دعدت نفقه يي هم ورکړه نو دده ښځه مطلقه ثلاثه سوه اوس بي له حلالي دا ښځه ده لره حلاله نه ده (١) او دميړه داقرار په صورت کي هيڅ شاهد ته ضرورت نسته شاهدانو ته دميړه دانکار په صورت کي ضرورت وي ديوه سړي او ددوو ښځو په شاهدي طلاق ثابتيږي او لکه چي بائن په صريح پوري ملحق کيږي (٢) نو چي کمه ښځه وايي چي سړي تر دوو طلاقو وروسته لفظ دبائن ويلى دی نو ددي دشاهدي موافق هم دری طلاقه واقع سوه خو په هر حال ښځه مطلقه ثلاثه سوه.

طلاق مغلظ يی ووايه نو کم طلاق واقع سو او څومره واقع سو؟ سوال: (۴۹۱) چا خپلي ښځي ته وويل چي تاته مغلظ طلاق دی اوپه دي سره يي دعدد نيت نه وو کړی بلکه دامراد يي اخيستی وو چي بي له حلالي به نکاح صحيح نه وي نو په دي صورت کي کم قسم طلاق واقع سو؟

جواب: په دي صورت کي دری طلاقه دده پرښځه واقع سوه او دامغلظه حرامه سوه اوبی له حلالي به ددی سره نکاح صحيح نه وي: كما فى الدرالمختار فان نوى ثلاثا لانه فرد حكمى (٣) او چي په کم طلاق کي بي له حلالي نکاح صحيح نه وي نو هغه دری طلاقه دي: وفي الشامي قد عللوا صحة نية الثلث فى جميع ما مر بانه وصف الطلاق بالبينونة وهى نوعان خفيفة وغليظة فاذا نوى الثانية صح فيقال ان تاء الوحدة لا تنافي ارادة البينونة الغليظة وهى ما لا تحل له المرأة معها الا بزوج اخر. الخ (ج٢ ص۴۵۰) (۴)

چی کله يی دری طلاقه ورکړل نو مغلظ طلاق سو او بی له حلالي جائزه نه ده: **سوال**: (۴۹۲) يوه سړي خپلي ښځي ته طلاق ورکی چي دهغی شپږ کاله وسوه کله چي نوموړي ښځي يو خط دخرڅي په اړوند خپل دغه خاوند ته ورکی نوموړي سړي ددي خط په رسيدو باندي کاغذ اومهر دطلاقنامي کاتب ته يووړی چي ما دي ښځي ته طلاق ورکړی

(١) وان كان الطلاق ثلثا فى الحرة الخ لم تحل له حتى تنكح زوجا غيره نكاحا صحيحا ويدخل بها ثم يطلقها او يموت عنها (هدايه باب الرجعة ج٢ ص٣٧٨). ظفير

(٢) الصريح يلحق الصريح ويلحق البائن بشرط العدة والبائن يلحق الصريح (الدرالمختار على هامش ردالمحتار باب الكنايات ج٢ ص۶۴۵. ط. س ج٣ ص٢٧٧). ظفير

(٣) ايضا باب الصريح ج٢ ص۵۹۴. ط. س. ج٣ ص٢۵٢، ردالمحتار باب الصريح ج٢ ص٢١٨. ط. س. ج٣ ص٢٧٧. ظفير

(۴) ردالمحتار باب الصريح ج٢ ص٢١٨. ط. س. ج٣ ص٢٧٧. ظفير

دی کاتب طلاقنامه تحریر کړه شاهدان په دغه ځای کي موجود نه وه دکاتب بیان او دطلاقنامي شاهدان او دطلاقنامي کاغذ دي ښځي عدالت ته وړاندي کی چي دملاحظي دپاره مو تاسو ته هم دراستولی دی تراوسه دغه ښځه دمور او پلار په کور کي ناسته ده دغه طلاق جائز دی اوکه نه؟ او ددي دوباره نکاح دخپل میړه سره صحیح کیدای سي اوکه نه؟

جواب: مطابق دطلاقنامي چي را استول سویده او دعدالت لخوا تصدیق سویده پردغه ښځه دری طلاق واقع سوه او چي کله کاغذ دطلاقنامي په خپله میړه رجسټري کی او داخل دعدالت یي کی او په دي مضمون یي اقرار وکی نو دده ددریو طلاقو څخه انکار به معتبر نه وي. هکذا فی کتب الفقه (١) او ددریو طلاقو څخه وروسته بي له حلالي داول میړه سره دوباره نکاح نه سي کولای. (٢)

<u>ددریو طلاقو څخه وروسته یی په زور سره ښځه وساتله نوڅه حکم دی؟</u> سوال: (۴۹۳) یوه سړي خپلي ښځي ته دشاهدانو په مخ کي طلاق ورکی او دری یي ورکړل بیا وروسته میړه دغه ښځه بي له حلالي په زور په کور کي وساتله او دابنځه ددي کار څخه ډیره متنفره ده خو مجبوره ده او څو سړیانو هم په شریکه دا ښځه میړه ته په زور حواله کړه نو دابنځه پرده حرامه ده اوکه نه؟ او ددي سړي دمرسته کوونکو څه حکم دی؟

جواب: که دوه شاهدان معتبر ددي اقرار وکړي چي زموږ په مخ کي دي سړي دری طلاقه ښځي ته ورکړي دی نو دده پرښځه دری طلاقه واقع سوه او دهغي منکوحه ګڼل او ددي سره وطی کول حرام او زنا ده او دا سړی عندالله لوی فاسق اوظالم دی او چي کم خلګ ددي بد فعل مرستندویان دي نو داخلګ هم ددي په حکم کي دي او ښځه مجبوره ده که دا فعل بد ګڼي او دخپل وس مطابق دده څخه دبیلیدو کوشش کوي نو الله تعالی مهربان دی چي ددي مجبوری ته وګوري او ګناه ورته معاف کړي.

<u>په یوه مجلس کی ددوو یا ددریو طلاقو حکم</u>: سوال: (۴۹۴) یوه سړي دغصي په حالت کي په یوه وخت او یوه مجلس کي دوه یا دری ځله وویل ماتاته طلاق درکړی نو په دي صورت کي دامام صاحب مذهب خو دا دی چي دری طلاقه واقع کیږي او دامام شافعي

(١) ولو قال للكاتب اكتب طلاق امرأتي كان اقرارا بالطلاق وان لم يكتب ولو استكتب من اخر كتابا بطلاقها وقرأه على الزوج وحقه وعنونه وبعث به بها فاتاها وقع ان اقرا الزوج انه كتابها (ردالمحتار كتاب الطلاق ج٢ ص٥٨٩. ط. س. ج٣ ص٢٤٢، مطلب فى الطلاق بالكناية). ظفير

(٢) وان كان الطلاق ثلاثا في الحرة الخ لا تحل له حتى تنكح زوجا غيره نكاحا صحيحا ويدخل بها ثم يطلقها او يموت عنها (هدايه باب الرجعة ج٢ ص٣٧٨). ظفير

رحمه الله په نزد چي مجلس يو وي نو يو طلاق واقع سو اورجوع كولای سي او دمولانا عبدالحی صاحب هم دا رايه ده خو حضرت مولانا گنگوهي رحمه الله په فتاوی رشيديه كي ښكاره ليكلي دي چي درى طلاقه به وي او دهيڅ ضرورت لحاظ نه كيږي نو په دي صورت كي رجوع او نوي نكاح كيدای سي اوكه نه؟

جواب: كه دوه ځله يي لفظ دطلاق ويلی وي نوحكم ظاهر دی چي په عدت كي رجوع صحيح ده اوكه يي دری ځله وواييي نو ښځه به مغلظه بائنه وي او بي له حلالي څه صورت ددوباره نكاح كولوهم نسته [1] او فتوی دحضرت اقدس گنگوهي بالكل حقه او بلاريب او ارتياب صواب ده په شامي كي دمحقق ابن الهمام دفتح القدير څخه نقل كوي چي په دي صورت كي اجماع داصحابو دوقوع ددرو طلاقو ده او دشوافعو هم دا مذهب دی ځينو حنابله ؤ مخالفت كړی دی چي معتبر نه دی اويا دروافضو خلاف دی چي مردود دی په هرحال په دي كي هيڅ لاره نسته: ومن هذا لو حكم حاكم بانها واحدة لم ينفذ حكمه لانه لايسوغ الاجتهاد فيه فهو خلاف لا اختلاف الخ شامي. [2]

<u>په يوه مجلس كی دری طلاقونه</u>: سوال: (۴۹۵) يوه سړي خپلي ښځي ته دری طلاقونه په يوه مجلس كي وركړل او ښځي ته دهغه څخه بيليدل دضرر باعث دي په حنفي مذهب كي دطلاق دنه واقع كيدو يوه طريقه وليكئ كه په حنفي مذهب كي داسي طريقه نه وي نو حنفي ته په خاصه مسئله كي په بل مذهب عمل كول روا دي اوكه نه؟

جواب: په پوښتل سوي صورت كي دری طلاقونه واقع سول دحلالي پرته دلومړي ميړه لپاره حلاله نه ده اگر كه دمضرت باعث وي كه مضرت وي نو طلاق يي ولي وركوی، خپل مذهب پريښودل اوپه بل مذهب عمل كول هغه وخت روادي چي كله په هغه مذهب په عمل كولو كي څه كراهت نه لازميږي او دلته كراهت نه بلكه حرمت دی ځكه نو په دي صورت كي جواز نه لري په درمختار كي ويلي دي: لكن يندب للخروج من الخلاف لا سيما للإمام لكن بشرط عدم لزوم ارتكاب مكروه مذهبه (الدرالمختار على هامش ردالمحتار).

<u>دايی وويل چی فارغ خطی می ليكلی ده نوڅه حكم دی</u>؟ سوال: (۴۹٦) محمد ابراهيم دخپلي ښځي بندي نومي په باره كي خپل ورورته داخط وليكی چي يوكال وسو چي

---

[1] او اطلق الرجل امراته تطليقة رجعية او تطليقتين فله ان يراجعها فی عدتها رضيت بذلك او لم ترض الخ وان كان الطلاق ثلثا فی الحرة الخ لم تحل له حتی تنكح زوجا غيره نكاح صحيحا ويدخل بها ثم يطلقها او يموت عنها (هدايه باب الرجعة ج۲ ص۳۷۳ – ۳۷۸). ظفير

[2] الدرالمختار علی هامش ردالمحتار كتاب الطهارة ج۱ ص۱۳٦ – ۱۳۷. ط. س. ج۱ ص۱۴۷. ظفير

مادي ته طلاق ورکړی دی اوفارغ خطي مي وليکله او خپل ورور ته مي وليږله او ځو ځله يي لفظ دفارغ خطي دښځي په باره کي وليکی نو په دي صورت کي کم طلاق واقع سو؟ که دوباره نکاح کول غواړي نو کولای يي سي اوکه نه؟ که نکاح جائزه وي نو ديته نفقه ورکول جائز دی او که نه؟

جواب: په دي صورت کي پربندي کي نومي ښځي باندي طلاق بائن واقع سو او ظاهره داده چي دری طلاقه واقع سوه نو ددي وجهي بي له حلالي نکاح ددي سره صحيح نه ده او دحلالي صورت دادی چي دا ښځه دعدت يعني ددريو حيضونو دتيريدو ځخه وروسته دبل ميړه سره نکاح وکړي او وروسته ددخول او وطی ځخه طلاق ورکړي نو بيا دعدت دتيريدو ځخه وروسته داول ميړه سره نکاح کولای سي او دمطلقي نفقه په عدت کي پرميړه لازمه ده او دعدت ځخه وروسته که وغواړي اوپه طريقه داحسان څه ورکوي نو هيڅ ستونزه نسته. (١)

يو ځل يی طلاق ورکی او بيايی دري ليکي کش کړي نوڅو طلاقه واقع سوه؟ سوال: (۴۹۷) زيد خپلي ښځي ته يوځل وويل ماتاته طلاق درکی دا يې وويل او دری خطي يي په خپله ګوته پرځمکه راکش کړي او دزيد بيان دی چي ماپه دي دريو خطو کي ددرو طلاقو اراده کړيده نو په دي صورت کي طلاق مغلظ واقع سو اوکه بائن؟

جواب: دزيد پرښځه دری مغلظ طلاقونه واقع سوه (٢) اوبي له حلالي ددي سره دزيد نکاح صحيح نه ده.

چي ددری ځله ځخه زيات طلاق ورکړی نو کم طلاق به واقع وی؟ سوال: (۴۹۸) که يو سړی خپلي منکوحي ته دری يا ددريو ځلو ځخه زيات طلاق ورکړي يعني ددريو ځلو ځخه زيات يي داسي وويل چي ما تاته طلاق درکی نو اوس بيا دی ددي ښځي سره بي له حلالي نکاح کولای سي او که نه؟ او اوس ددي مطلقي سره دده دزوجيت اړيکي پاته دي او که نه؟ او دحلالي صورت ځنګه دی؟ آيا چي دچا سره ددي نکاح وسي او مخکی دهغه سره دا شرط کنښېنودل سي چي دنکاح ځخه وروسته به طلاق ورکوي او صحبت ونه کړي اويادنابالغ سره ددي نکاح وسي اودا نابالغ دي ته طلاق ورکړي اوبيا ددي سره

(١) وان کان الطلاق ثلاثا فی الحرة لم تحل له حتی تنکح زوجا غيره نکاحا صحيحا ويدخل بها ثم يطلقها او يموت عنها (هدايه ج٢ ص٣٧٠) واذا طلق الرجل امرأته فلها النفقة والسکنی فی عدتها رجعيا کان او بائنا (هدايه ج٢ ص۴٢١). ظفير

(٢) انت طالق هکذا مشيرا بالاصابع المنشورة وقع بعد ما اشار اليه لمن الاصابع الاشارة اللغوية او بعدد ما اشار به منها الاشارة الحسية (ردالمحتار ج٢ ص٧١۵. ط. س. ج٣ ص٢٧۴). ظفير

نکاح وسي. بينوا !

جواب: بي له حلالي ددي ښځي مطلقي ثلاثي سره داول ميړه نکاح صحيح نه ده اوپه حلاله کي ددويم ميړه وطی کول شرط دی دنابالغ غير قادر علی الجماع سره حلاله نه سي کيدای اوبيا دنابالغ طلاق هم نه واقع کيږي مراهق يعنی قريب البلوغ که وطی وکړي او دبلوغ څخه وروسته طلاق ورکړي دده دعدت دتيريدو څخه وروسته داول ميړه سره نکاح کولای سي په درمختار کي دي: وکره التزوج تحريما لحديث لعن المحل والمحلل له لشرط التحليل الخ کتزوجتك علی ان احللك وان حلت للاول لصحة النكاح وبطلان الشرط فلا يجبر علی الطلاق الخ اما اذا ضمرا ذلك لايكره وكان الرجل ماجوراً لقصد إلاصلاح. درمختار (۱) قوله بشرط التحليل تاويل للحديث بحمل اللعن علی ذلك الخ. شامي (۲).

چي څوک ووايي (چي هرڅومره ودونه کوم ټولو ته دري طلاقه) نوڅه حکم دی؟ سوال: (۴۹۹) يوه سړي دخلګو په مخ کي وويل چي څوك په بهادري سره ويلای سي چي موږ څومره ودونه وکړو نو پرټولو دي دری طلاقه وي نو زيد بعينه دا الفاظ دبهادری ټکي سره وويل چي ما څوسره ودونه وکړه نو پرټولو دي دری طلاقه وي په دي صورت کي دزيد پرمنکوحه باندي چي ددي وينا څخه وروسته سوي ده دری طلاقه واقع سوه اوکه نه؟ او دزيد لپاره دنکاح دحلاوالي څه صورت سته او که نه؟

جواب: په دي صورت کي زيد چي دهري ښځي سره نکاح وکړي نو پرهغي به دری طلاقه واقع وي که ددي مطلقي سره وروسته دحلالي بيا نکاح وکړي نو صحيح ده اوپر هغي به دوهم وار طلاق نه وي واقع: کما في الشامي لان اليمين فی كل وان انتهت في حق اسم بقيت فی حق غيره من الاسماء، او دنکاح دحلالوالي حيله په داسي موقع کي هغه ده چي په درمختار او په شامي کي نقل ده چي دفضولي دنکاح اجازت په فعل سره ورکړي يعني دمهر په تقبيل او يا بل فعل سره په دي صورت کي به دده پرمنکوحه طلاق واقع نه وي په درمختار کي دي: كل امرأة تدخل فی نکاحي الخ وكذا فاجاز نكاح فضولي بالفعل لا يحنث الخ (۳). فقط

په يوه مجلس کی يی دری طلاقه ورکــړه نو څه حکم دی؟ سوال: (۵۰۰) يوه سړي په يوه

(۱) الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ج۲ ص۷۴۳ باب الرجعة. ط. س. ج۳ ص۱۴۱. ظفير

(۲) شامي ج۲ ص۷۴۳. ط. س. ج۳ ص۱۴۱. ظفير

(۳) الدرالمختار علی هامش ردالمحتار مطلب قال كل امرأة تدخل فی نکاحي فكذا ج۳ ص۱۸۹. ط س. ج۳ ص۸۴۲، کتاب الايمان باب اليمين فی الضرب والقتل الخ. ظفير

مجلس کي اوپه يوه وخت کي خپلي ښځي ته دری طلاقه ورکړه ايا دری واړه طلاقه په يوه مجلس کي ددريو په حکم کي دی اوکه ديوه په حکم کي، په دويم صورت کي رجوع کولای سي او که نه؟ پردي باندي يوه محترم لاندي جواب ليکلی دی:

جواب: وروسته ترحمد او صلوة، ښکاره دي وي چي پورته ذکر سوي دری طلاقه هم ديوه په حکم کي دی نو ددي وجهي څخه رجوع کيدی سي لکه څنګه چي په مسلم شريف جلد۱ ص۴۷۹ کي روايت راغلی دی: عن ابن عباس ﷺ قال کان الطلاق على عهد رسول الله صلى الله عليه وسلم وابي بكر وسنتين من خلافة عمر ﷺ طلاق الثلث واحدة، يعني دنبی کريم ﷺ او دابوبکر ﷺ په زمانه کي او دوه کاله دحضرت عمر ﷺ په خلافت کي په يوه ځل دری طلاقه ديوه طلاق په حکم کي وه. حرره عبدالرحمن مدرس مدرسه مطلع العلوم.

پردي باندي حضرت مفتی عزيز الرحمن صاحب دا جواب ليکلي دي:

جواب: دا فتوی دقرآن کريم دآيت او دصحيحو احاديثو او دامت داجماع څخه مخالفه ده، لکه څنګه چي په ردالمحتار کي دي: وذهب جمهور الصحابة والتابعين ومن بعدهم من أئمة المسلمين الى انه يقع ثلثا قال فى الفتح بعد سوق الاحاديث الدالة عليه وهذا يعارض ماتقدم واما امضاء عمر الثلث عليهم مع عدم مخالفة الصحابة له وعمله بانها كانت واحدة فلا يمكن الا وقد اطلعوا فى الزمان المتأخر على وجود ناسخ او بعلمهم بانتهاء الحكم الحق لذلک الى ان قال وقد ثبت النقل عن اكثرهم صريحا بايقاع الثلث ولم يظهر لهم مخالف فماذا بعد الحق الا الضلال وعن هذا قلنا لو حكم القاضي او الحاكم بانها واحدة لم ينفذ حكمه لانه لا يسوغ الاجتهاد فيه فهو خلاف لا اختلاف الخ (۱) (شامي ص۴۱۹) حاصل دادی چي په ذکر سوي صورت کي ددي سړي پرښځه باندي دری طلاقه واقع سوي اوبي له حلالي دا مطلقه داول ميړه لپاره حلاله نه ده قال الله تعالى: فان طلقها فلا تحل له من بعد حتى تنكح زوجا غيره، الآيه (۲) اوپه حديث شريف کي هم ددي صراحت موجود دی په صحيح بخاري او مسلم کي دحضرت عائشي صديقي ﷺ څخه روايت دی: ان الرجل طلق امرأته ثلاثا فتزوجت فطلق فسئل النبى ﷺ اتحل للاول قال لا حتى يذوق عسيلتها كما ذاق الاول (۳) اوپه

---

(۱) ردالمحتار کتاب الطلاق ج۲ ص۵۷۲. ط. س. ج۳ ص۲۳۳. ظفير

(۲) سورة البقرة رکوع ۲۹. ظفير

(۳) وګورئ بخاری شريف ج۲ ص۷۹۱ او مسلم شريف ج۱ ص۴۲۳، چي دمسلم الفاظ بالکل زيات واضح دي: عن عائشة قالت طلق رجل امرأته ثلاثا فتزوجها رجل ثم طلقها قبل ان يدخل بها فاراد زوجها الاول ان يتزوجها=

دارقطني ص۴۳۸ کي دي: قال رسول الله ﷺ عليه وسلم اذا طلق الرجل امراته ثلاثا فلا تحل له حتى تنكح زوجا غيره ويذوق كل واحد منهما عسيلة الاخر، دداسي صريحو حديثونو څخه وروسته بله هيڅ لاره نسته. فقط

که څه هم نه ورباندي پوهيږي خو په دري طلاقه ورکولو سره دري واقع کيږي: سوال: (۵۰۱) بي علمه زيد ته دده ښځي تعليم ورکى چي: دشاهدانو پرته طلاق نه واقع کيږي نوته زما څخه الفاظ زده کړه او ماته طلاق راکړه وروسته به زه خپل پلار ته داظاهره کړم کيدي سي چي دطلاق په وجه فلانی بندکار وسي، نوزيد په تعليم دخپلي ښځي وويل دبکر لور هندي ته مادری طلاقه ورکړل نو په دي صورت کي څو طلاقونه واقع سوه اوکه نه سوه؟

جواب: په دي صورت کي دبکر پرلور هنده باندي دری طلاقه واقع سوه.

دوه يي دطلاق لفظونه وويل اوبو دحرام، نو څو طلاقونه واقع سوه؟ سوال: (۵۰۲) زيد خپلي مدخولي ته وويل پرتا طلاق دی پرتا طلاق دی ته حرامه يې، نو آيا حرام طلاق دصريح سره ملحقيږي؟ او ددريو حکم ثابتيږي اوکه نه؟

جواب: په دي صورت کي يقيناً دحرام لفظ دصريح طلاق سره پيوست کيږي او دری طلاقه ثابتيږي. کما فی الدرالمختار والبائن يلحق الصريح الخ. (١)

= فسئل رسول الله ﷺ عنه فقال لا حتى يذوق الاخر عسيلتها كما ذاق الاول اما نووی ددی صراحت کوي او ليکي: وبه قال جميع العلماء من الصحابة والتابعين، امام مسلم په يو بل ځای کي په ډير واضح ډول ليکي: وقد اختلف العلماء فيمن قال لامرأته انت طالق ثلاثا فقال الشافعی ومالك وابو حنيفة واحمد وجماهير العلماء من السلف والخلف يقع الثلث (مسلم ج١ ص۴۷۸) پاته سوه معامله دابن عباس رضي الله عنه دحديث نو ددی جواب امام نووي رحمه الله ورکړی دی: واما حديث ابن عباس الخ فالاصح ان معناه انه كان فی الامر الاول اذا قال لها انت طالق انت طالق ولم ينو تاكيداً ولا استينافا يحكم بوقوع طلقة لقلة ارادتهم الاستيناف بذلك فحمل على الغالب الذی هو ارادة التاكيد فلما كان فی زمن عمر وكثر استعمالهم الناس بهذه الصيغة وغلب منهم ارادة الاستيناف بها حملت عند الاطلاق على الثلث عملا بالغالب السابق الى الفهم منها فی ذلك العصر الخ (نووی شرح مسلم ج١ ص۴۷۸) حاصل يي دا دی چي دری ځله مطلقا په دي ويلو سره چي طلاق مي ورکی، طلاق مي ورکی او هيڅ نيت يي نه وي اختلاف وو چي دری واقع سوه اوکه يو؟ ابن عباس رضي الله عنه وايي چي په دي صورت کي دعمر رضي الله عنه تر زماني پوري يو ګڼل کيدوی او دا دری ځله دتاکيد دپاره وو خو دعمر رضي الله عنه په زمانه کي عموما دا متعدد طلاق وګڼل سو نو ددي اطلاق په صورت کي دا دری وګرځول سوو، دامطلب له دي امله هم صحيح دی چي دابن عباس رضي الله عنه فتوی هم ددريو ده په موطاء امام مالك کي دي: ان رجلاً قال لابن عباس انی طلقت امرأتي مائة تطليقة فماذا ترى على فقال له ابن عباس طلقت منك بثلاث (موطاء امام مالك باب الطلاق ص۱۹۹). ظفير

(١) الدرالمختار على هامش ردالمحتار باب الكنايات ج٢ ص۷۴۵. ط. س. ج٣ ص۳۰۲ مطلب فی الصريح يلحق الصريح والبائن. ظفير

دري ځله يي وويل طلاق مي درکی نو په دي سره هم دري واقع سوه: **سوال**: (**۵۰۳**) دزيد دورور سره دزيد دښځي هندي جنګ سو په همدي وخت کي زيد راغی له دي امله چي دزيد ښځي په زوره زوره خبري کولی زيد منع کړه چي چپ سه نو هغه چپ نه سوه نو له دي کبله يي غصه زياته سوه او هنده بي اجازته دخپل کور څخه بل ځای ته ولاړه ددي وجهي زيد دا لفظ وويلی چي ته ځي نودری طلاقه درکوم دا يې وويل اوزيد دکور څخه دباندي ولاړی نو هندي دی ونيوی چي ته ځي نو زما جګړه ختمه کړه په دي خبره زيد وويل چي ته غواړي نو تاته طلاق دی طلاق دی طلاق دی نو په دي صورت کي طلاق واقع سو او که نه؟ که واقع سوی وي نو کم يو دی؟

جواب: ددرمختار او شامي څخه معلوميږي چي داسي طلاق منجز وي په تعليق کي نه شمارل کيږي ([1]) ددي وجهي په دي صورت کي دزيد پرښځه دری طلاقه واقع سوه او هنده بائنه مغلظه سوه بي له حلالي دزيد سره دوهم وار نکاح نه سي کولای.

يو طلاق دوه طلاقه ځلور طلاقه مي درکړل، په دي سره څو طلاقه واقع سوه؟ **سوال**: (**۵۰۴**) زيد خپلي ښځي ته وويل تاته مي يو طلاق دوه طلاقه ځلور طلاقه درکړل دعالمګيري ددي عبارت: انت واحدة ومائة انت واحدة والف، څخه معلوميږي چي دوه طلاقه واقع سوه ځکه چي په دي عبارت کي يو واقع سو اوپه اشباه کي ددي قاعدي: الاعمال اولی من الاهمال ولما فرعته الخ، څخه هم دامعلوميږي چي په سوال کي به دوه طلاقه واقع وي او لفظ دڅلورو طلاقو به دالف او مائة په شان لغوه وي دری طلاق به ولي نه وي، مثالونه دوقوع ددريو او ددي عبارات دفقهي په کتابو کي ډير دي؟

جواب: په دي صورت کي دری طلاقه واقع سوه بي له شکه او شبهي، او روايت دعالمګيري په غير مدخوله کي دي چي هغه په يوه طلاق بائنه کيږي او دويم او دريم دتفريق په صورت کي پرهغي نه واقع کيږي عبارت دعالمګيري په (فصل رابع فی الطلاق قبل الدخول) کي دادی چي: اذا طلق الرجل امرأته ثلاثا قبل الدخول بها وقعن عليها فان فرق الطلاق بانت بالاولی ولم تقع بالثاني والثالث الی ان قالوا لو قال ولم يدخل بها فانت طالق احدی وعشرين تقع الثلاث عند علمائنا الثلاثة ولو احد عشر تقع الثلاث فی قولهم ولو قال واحدة وعشراً وقعت واحدة ولو قال واحدة ومائة او واحدة والف کانت واحدة يفتی رواية الحسن عن ابي حنيفة رحمه الله وقال ابو يوسف تقع الثلاث

([1]) وان قال بامره اوبحکمه اوبقضائه او باذنه اوبعلمه او بقدرته يقع فی الحال اضيف اليه تعالی اوالی العبد اذ يراد بمثله التنجيز عرفا (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ج۲ ص۷۰۲. ط. س. ج۳ ص۳۷۳ باب التعليق). ظفير الدين

كذا في المحيط (۱) نو څرګنده سوه چي دا اختلاف په غير مدخوله كي دى نه په مدخوله كي. فقط

ددوو شاهدانو په شاهدي سره درى طلاقه سوه اګر که ميړه ته ياد نه وي: **سوال:** (**۵۰۵**) زيد ته چي كله دده ښځي وويل چي: ماته طلاق راكړه نو ده دغصي په حالت كي ديته جواب وركى چي ما تاته دوه ځله طلاق دركى ددي څخه وروسته په عدد كي اختلاف رامينځ ته سو چي درى طلاقه يي وركړي اوكه دوه زيد وايي چي زما ښه په ياد دي چي دوه طلاقه مي وركړي دي او درى طلاقه مي په ياد نه دي لنډه دا چي دوه يي ښه پاخه ياد دي خو دوه سړي چي عربي لوستونكي اوطالبان دي وايي چي زيد درى طلاقه وركړل اوپه دوى كي يو طالب العلم داهم وايي چي زيد ماته ددي مطلقي په مخ كي داسي هم ويلي دي چي ماديته لس ځله طلاق وركړى دى خو دانه ځي. او دزيد مور او ورور هم دا اقرار كوي چي درى طلاقه يي وركړي دي نو اوس شرعًا څه حكم دى؟

جواب: كله چي دوه معتبر شاهدان وايي چي زيد درى طلاقه وركړي دي نو دده پرښځه درى طلاقونه واقع سوه اوس دحلالي پرته داول ميړه سره نكاح نه سي كولى. (۲)

دويم ميړه چي دوطي څخه وروسته طلاق وركړي نو داول ميړه لپاره جائزه ده: **سوال:** (**۵۰۶**) يوه سړي خپله په دريو طلاقو طلاقه كړي ښځه دخپلي خور ميړه ته په نكاح كړه محلل دځو ورځو څخه وروسته طلاق وركى پخواني ښځه وايي چي دنوي سره يي په كوركي زما دويښتيا په حالت كي وطى وكړه او محلل هم په دي اقرار كوى خو نوي ښځه په بيل كوركي دوطى دعوه كوي او محلل ددي څخه منكر دى دوطى دځاى په اړه پراختلاف برسيره دنوي سره دزړي ښځي په مخ كي وطى كول معتبر دي او كه نه؟

جواب: اول ميړه ته دنكاح دحلالولو لپاره ددويم ميړه وطى شرط ده او دوطى اقرار دواړه كوي اګركه په ځاى كي اختلاف دى نو دزوجينو داقرار موافق ذكر سوي ښځه داول ميړه دپاره حلاله سوه يعني دعدت دتيريدو وروسته داول خاوند سره نكاح كولاى سي: ولو اخبرت مطلقة الثلث لمضى عدته وعدة الزوج الثاني بعد دخوله والمدة تحتمله جاز له اى للأول ان يصدقها ان غلب على ظنه صدقها الخ. (۳)

اول ميړه ته دبيرته رجوع كيدو دپاره حلاله يعني نكاح اووطى ضروري ده اودطلاق په دركړم

---

(۱) فتاوى عالمګيري مصري فصل رابع فى الطلاق في الدخول ج۱ ص۳۷۳. ظفير

(۲) ونصابها اى الشهادة لغيرها من الحقوق سواء كان الحق مالا او غيره كنكاح وطلاق الخ رجلان او رجل وامرأتان (ردالمحتار كتاب الشهادات ج۴ ص۵۱۵. ط. س. ج۵ ص۴۶۵). ظفير

(۳) الدرالمختار على هامش ردالمحتار باب الرجعة مسئلة الهدم ج۲ ص۷۴۲. ط. س. ج۳ ص۴۱۸. ظفير

په ويلوسره طلاق نه واقع كيږي: **سوال**: (۵۰۷) يوسړي دنعمت خان په نامه دهندو رياست دعدالت په حكم او دخپلو دوستانو په زور سره خپلي ښځي ګبرو ته دري طلاقه وركړل. دوې دري ورځي وروسته نعمت خان دځينو خلګو دخبرو په اوريدو ځينو هندوانو ته خپله اراده ظاهره كړه چي زه به ذكر سوى ښځه بيا خپل ځان ته په مناسبه موقع كي راغواړم، اوبيا تقريبا دري مياشتي وروسته دښځي او دميړه په مينځ كي زباني سوله وسوه لږ موده وروسته خپلوانو هم ددوهم وار نكاح كولو هدايت وكى كله چي داول طلاق څخه وروسته دا ښځه لا تر اوسه دبل چاپه نكاح كي نه وه راغلى دهمدي لپاره ددي ښځي نكاح دمنګل خان سره وسوه په دي شرط چي دنكاح څخه وروسته به سمدستي طلاق وركوي دنكاح څخه وروسته ده وويل چي زه اوس طلاق نه وركوم صبا يا بل صبا به يي وركړم بيا يي دطلاق دوركولو څخه انكار وكى ښځه منګل خان نه خوښوي پوښتنه داده چي منګل خان چي كم طلاق لومړى وركړى وو هغه جايز وو اوكه نه؟ دمنګل خان نكاح صحيح ده اوكه غلطه؟ او دمنګل خان داخبره چي سبا يابل سبا به طلاق وركوم څه حكم لري؟ او دښځي دا ويل چي ماته منګل خان منظور نه دى چي په دي وجه دا نه دمنګل خان كور ته تللي اونه يي خلوت صحيحه سوى دى نو اوس دجدايي يا دطلاق څنګه صورت كيداى سي؟

جواب: نعمت خان چي اول دري طلاقه وركړل هغه واقع سوه اوبي له حلالي دى دامطلقه په خپله نكاح كي نه سي راوستلاى، او حلاله داده چي داښځه دعدت څخه وروسته دبل سړى سره نكاح وكړي اوبيا هغه دوطى كولو څخه وروسته طلاق وركړي او ددي عدت هم تيرسى نو په دغه وخت كي ددي سره اول ميړه نكاح كولاى سي (۱) ددريو طلاقو څخه وروسته رجوع نه سي كيدى، نو دنعمت اراده درجوع ظاهرولو هيڅ فائده نه لري په دي سره هيڅ هم ونه سوه اوكه ده رجوع كړي هم وي نو هغه صحيح نه ده او مخكني نكاح باقي نه پاته كيږي دمنګل خان نكاح صحيح سوه ترڅو چي دي كوروالي ونه كړي اوعدت تير نه سي نو ترهغه وخته به دنعمت خان لپاره ددي ښځي سره نكاح حلاله نه وي اوكه فرضا منګل خان ديته بي له كوروالي طلاق هم وركړي خو بياهم دنعمت خان لپاره دا ښځه حلاله نه ده ځكه چي په حلاله كي ددويم خاوند كوروالي ضروري دى او

---

(۱) وان كان الطلاق ثلاث فى الحرة او ثنتين في الامة لم تحل له حتى تنكح زوجا غيره نكاحا صحيحا ويدخل بها ثم يطلقها او يموت عنها (هدايه باب الرجعة فصل فيما تحل به المطلقة ج۲ ص۳۷۸) ولو اخبرت مطلقة الثلاث بمضى عدته وعدة الزوج الثاني بعد دخوله والمدة تحتمله جاز له اى للاول (درمختار) بل قالت تزوجت ودخل بي الزوج وطلقنى وانقضت عدتي (ردالمحتار باب الرجعة ج۲ ص۷۴۲ ط. س. ج۳ ص۴۱۸). ظفير

دمنګل خان دا ویل چي زه به سبا یا بل سبا طلاق ورکوم په دي سره طلاق نه واقع کیږي او ښځي چي یاري دمنګل خان سره نکاح وکړه نو بیا ددي داویل چي ماته منګل خان منظور نه دی لغو دی په دي سره په نکاح کي هیڅ توپیر نه راځي منکوحي ته دنکاح کولو څخه وروسته دجدایي هیڅ ډول اختیار نسته او دمیړه دطلاق ورکولو پرته دا دنکاح څخه نه سی وتلای او دبل چاسره نکاح نه سي کولای (١) نو طریقه دجدا کیدو داده چي دمنګل خان څخه طلاق واخیستل سي او دنعمت خان سره یي ددوهم وار نکاح جائز کیدو لپاره ضروري ده چي منګل خان دکوروالي څخه وروسته طلاق ورکړي او په ذکر سوي شرط سره نکاح کول مکروه تحریمي دي خونکاح صحیح کیږي. (٢)

په یوځل په دري طلاقه ورکولو سره پرغیر مدخوله هم دری طلاقه واقع کیږي: **سوال**: (۵۰۸) پرغیر مدخوله باندي حلاله سته اوکه نه؟

جواب: غیر مدخولي ته که په یوه ځل دری طلاقه ورکړل سي نو دری طلاقه پردي واقع کیږي اوپه دي صورت کي حلالي ته ضرورت سته او بي له حلالي داول میړه سره ددي نکاح نه صحیح کیږي: وفي الدرالمختار قال لزوجته غیر المدخول بها انت طالق ثلاثا وقعن (٣).

دشرط څخه پرته دویم میړه نکاح وکړه نوڅه حکم دي؟ **سوال**: (۵۰۹) یوه سړي خپلي ښځي ته دری طلاقه ورکړل وروسته دعدل څخه دغه ښځه بل سړي ته په شرط دتحلیل په نکاح سوه خوشرط دتحلیل یي په عقد دنکاح کي داخل نه کی بلکه دعقد څخه مخکي په جانبینو کي شرط سو دنکاح عقد بي له ذکره دشرط څخه منعقد سو دا نکاح ددویم میړه لپاره بي له کراهته حلاله سوه اوکه نه؟

جواب: کله چي په نکاح کي شرط دتحلیل ذکر نه سو نومکروه نه سوه: کما ذکر فی الدرالمختار وکره التزوج للثاني تحریما الخ بشرط التحلیل کتزوجتك علی ان احللك الخ اما اذا ضمرا ذلك لا یکره الخ. (۴)

---

(١) اما نکاح منکوحة الغیر الخ فلم یقل احد بجوازه (ردالمحتار باب المهر ج۲ ص۴۸۲، ط. س. ج۳ ص۱۳۲ مطلب في نکاح الفاسد). ظفیر

(٢) واذا تزوجها بشرط التحلیل فالنکاح مکروه لقوله علیه السلام لعن الله المحلل والمحلل له هو محمله (هدایه باب الرجعة فصل فیما تحل به المطلقة ج۲ ص۳۷۹) قوله هذا هو محمله ای محمله اشتراط التحلیل فی العقد کما ذکرنا اذ لو اضمر ذلك فی قلبه لم یستحق اللعن وقیل معنی قوله هو محمله الکراهة محمل الحدیث لا فساده، عنایه حاشیه هدایه. ظفیر

(٣) الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب طلاق غیر المدخول بها ج۲ ص۶۲۴. ط. س. ج۳ ص۲۸۴. ظفیر

(۴) الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب الرجعة ج۲ ص۷۴۳ – ۷۴۴. ط. س. ج۳ ص۴۱۴. ظفیر

په حلاله کې چې کله دويم ميړه بې له وطې طلاق ورکړي نودا ښځه داول ميړه لپاره حلاله نه ده: **سوال**: (۵۱۰) (۱) دويم ميړه که بې له وطې طلاق ورکې نو ښځه داول ميړه دپاره چې هغه درې طلاقه ورکړي دي حلاله سوه او که نه؟

(۲) دحلاله کوونکي لپاره په حديث کې څه حکم دی؟

جواب: (۱) په حلاله کې ددويم ميړه وطې کول شرط دي که يې بې له وطې طلاق ورکې نو دا ښځه داول ميړه لپاره حلاله نه ده. ([1])

(۲) په حديث شريف کې راغلي دي: لعن الله المحلل والمحلل له، يعنی دالله ﷻ لعنت دی پرحلاله کوونکي او پرهغه چا چې دهغه لپاره حلاله کيږي ددې مطلب زمونږ احنافو فقهاوو دابيان کړی چې صراحةً چاته وويل سي چې ته په غرض دحلالې نکاح وکړه بيا طلاق ورکړه او دی هم په دې شرط نکاح وکړي اوکه په زړه کې يې وي او په ژبه څه ونه وايي نوصحيح ده په درمختارکي دي: اما اذا اضمر ذلك لايكره وكان الرجل ماجورا لقصد الاصلاح ([2]).

مغلظې مطلقې ته چې دنکاح او وطې څخه وروسته طلاق ورکړل سي نو داول ميړه دپاره جائزه ده: **سوال**: (۵۱۱) زيد خپلې ښځې هندې ته طلاق ورکی هندې دعدت دتيريدو څخه وروسته دعمر سره نکاح وکړه خو عمر هم هندې ته ماښام ځلور بجې طلاق ورکې دورځې لس بجې نکاح سوې وه هنده وايي چې عمر دوطې څخه وروسته طلاق راکی او اول عمر دوطې څخه انکار کوی خو اوس دې هم په وطې اقرار کوي نو په دې صورت کې هنده داول ميړه يعنې دزيد لپاره حلاله ده اوکه نه؟ هندې دعمر دطلاق څخه وروسته عدت تيره کړه او داول ميړه سره يې نکاح وکړه نو دا نکاح جائزه ده اوکه نه؟

جواب: دانکاح چې هندې داول ميړه زيد سره کړيده صحيح ده په شامي کې دي: وعبارة البزازية ادعت ان الثاني جامعها وانكر الجماع حلت للاول الخ ([3]) ددې عبارت څخه معلومه سوه چې که ميړه دجماع څخه انکارهم وکړي اوښځه دجماع دعوه وکړي نودښځي

([1]) عن عائشة قالت طلق رجل امرأته ثلاثا فتزوجها رجل ثم طلقها قبل ان يدخل بها فاراد زوجها الاول ان يتزوجها فسئل رسول الله ﷺ عن ذلك فقال لا حتى يذوق الآخر عسيلتها كما ذاق الاول (مسلم شريف ج۱ ص۴۷۸). ظفير

([2]) الدرالمختار على هامش ردالمحتار باب الرجعة ج۲ ص۷۴۴ وكره التزوج للثاني تحريما لحديث لعن المحلل والمحلل له بشرط التحليل كتزوجتك على ان احللك وان حلت للاول لصحة النكاح وبطلان الشرط فلا يجبر على الطلاق كما حققه الكمال (ايضا ج۲ ص۴۷۳. ط. س. ج۳ ص۴۱۵). ظفير

([3]) ردالمحتار باب الرجعة ج۲ ص۷۴۲. ط. س. ج۳ ص۴۱۷، ولو قالت دخل بي الثاني والثاني منكر فالمعتبر قولها (ايضا) ط. س. ج۳ ص۴۱۸. ظفير

قول معتبر دی او داول میړه لپاره دا ښځه حلاله سوه.

ددريو طلاقو څخه وروسته حلاله ضروري ده او دپنځلس کلن سره حلاله صحيح ده: **سوال**: (**۵۱۲**) يوکال وسو چي ميړه دغصي په حالت کي ښځي ته طلاق ورکړی دی اوس ښځه او ميړه دواړه سره راضي دي دښځي ليور پنځلس کلن دی نو دده سره حلاله کيدای سي اوکه نه؟

جواب: که ميړه دری طلاقه ورکړي وي نو بي له حلالي ددي مطلقي ښځي سره نکاح دوهم وار صحيح نه ده او ليور چي دهغه عمر پنځلس کاله دی که دده سره نکاح وسي او دی دوطی څخه وروسته طلاق ورکړي نو وروسته دعدت څخه داول ميړه سره نکاح کولای سي، لنډه دا چي دپنځلس کلن سره حلاله کيدای سي. (1)

مغلظه دحلالی څخه وروسته جائزه ده: **سوال**: (**۵۱۳**) خپلي ښځي ته يي مغلظ طلاق ورکړ، او ددي څخه وروسته يي دنکاح تجديد وکی تردوو مياشتو وروسته يي داخرت دعذابونو دبيري په سبب دخپلي ښځي او بل سړي تر مينځ دتحليل په غرض ددوو شاهدانو په مخ کي پټه نکاح وکړه هغه سړي دوطی وروسته طلاق ورکی دعدت دتيريدو څخه وروسته زيد ورسره خپله نکاح وکړه اوس دا ښځه دزيد لپاره حلاله سوه اوکه نه؟

جواب: حلاله سوه.

په حلاله کي وطی شرط ده که دويم ميړه بي وطي طلاق ورکړي، نو داول ميړه دپاره جائزه نه ګرځي: **سوال**: (**۵۱۴**) که په عقد کي راوستلي ښځي ته دوهم ميړه بي له وطي طلاق ورکړي نو حلاله وسوه او که نه؟ اوپه حلاله کي وطی لازمي ده اوکه نه؟

جواب: حلاله داده چي ددريو طلاقو دعدت څخه وروسته (چي دحائضی دا دری حيضه دي) ددويم ميړه سره نکاح وکړي او بيا دغه ميړه وروسته دوطي طلاق ورکړي او بيا يي عدت پوره سي نوپه دغه وخت کي داول ميړه سره نکاح کول دمطلقي ښځي حلاليږي، اوکه دويم ميړه بي له دخول او جماع څخه طلاق ورکړي نوپه دي صورت کي داول ميړه لپاره نه حلاليږي بيادي يو بل دعدت څخه وروسته نکاح ورسره وکړي اودوطي څخه (2)

---

(1) لاينكح مطلقة من نكاح صحيح نافذ بها بالثلاث الخ حتى يطأها غيره ولو مراهقا يجامع مثله الخ بنكاح نافذ الخ وتمضى عدته (الدرالمختار باب الرجعة ج۲ ص۷۳۹. ط. س. ج۳ ص۴۰۹) قوله ولو مراهقا هوالداني من البلوغ، نهر، ولابد من ان يطلقها بعد البلوغ (ردالمحتار ايضا) پنځلس کلن هلك بالغ دی فقهاوو په دي تصريح کړيده لکه څنګه چي مخکی تير سوه. ظفير

(2) لا ينكح مطلقة من نكاح صحيح نافذ بها اى بالثلاث الخ حتى يطأها غيره بنكاح الخ وتمضى عدة الثاني (الدرالمختار على هامش ردالمحتار باب الرجعة ج۲ ص۷۴۰ – ۷۴۱. ط. س. ج۳ ص ۴۵۹). ظفير

وروسته دي طلاق ورکړي ترڅو داول ميړه دپاره حلاله سي.

کم خلک چي ديوه مجلس دری طلاقونه يو طلاق بولی نو حنفی دهغوی په اړوند څه وايی؟

سوال: (**۵۱۵**) يو سړی چي داهل حديثو دمذهب متبع دی په غصه کي راغی او خپلي ښځي ته يي په يوه مجلس کي دری طلاقه ورکړل علماوو داهل حديثو دا يو طلاق وبلی آيا حنفيانو ته ددي مفتي او دي سړي په اړوند دزنا فتوی ورکول او دي سړي ته زاني ويل او په دي مفتيانو او دې سړي پسي لمونځ نه کول جائز دی اوکه ناجائز؟ آيا دحنفی لمونځ په دوی پسي فاسديږي اوکه نه؟

جواب: بي شکه چي چاپه دريو طلاقو ديوه طلاق فتوی ورکړه نو هغه سخته غلطي وکړه او دجمهورو صحابه وو او امامانو خلاف يي وکړه او قطعی نص يي پريښودی داسړي دامامت قابل نه دی په ده پسي لمونځ مه کوی بي شکه دی زاني دی او ده ته زاني ويل صحيح دی بلکه دزاني څخه بد تر دی، چي مطلقي ثلاثه ته يي بي له حلالي رجوع وکړه اووطی ورسره کوي چي دا کار دقطعي نص سره ښکاره خلاف دی: قال الله تبارک وتعالی: فان طلقها (ای ثلثا) فلا تحل له من بعد حتی تنکح زوجا غيره، الآية، فشمل قوله تعالی المطلقة بالثلث متفرقة ودفعة واحدة فی مجلس واحد والتفصيل فی الفتح والشامي فقط. قال فی تفسير المظهري تحت قوله تعالی: الطلاق مرتان، لکنهم أجمعوا علی انه من قال لامراته أنت طالق ثلاثا يقع ثلاثا بالإجماع و قالت الامامية ان طلق ثلاثا دفعة واحدة لا يقع لهذه الاية وقال بعض الحنابلة يقع طلقة واحدة ومن الناس من قال ان فی قوله أنت طالق ثلاثا يقع فی المدخول بها ثلثا وفی غير المدخول بها والحجة لنا السنة والإجماع اما السنة فحديث ابن عمر انه طلق امرأته و هی حائض (الی ان قال) فقلت يا رسول الله ارايت لو طلقتها ثلاثا أکان يحل لی ان أراجعها قال لا کانت تبين منک وکانت معصية رواه الدارقطني و ابن ابی شيبة فی مصنفه عن الحسن قال حدثنا ابن عمر قد صرح بسماعه عنه وحديث ابن عباس فيه دلالة علی ان الحديث منسوخ فان إمضاء عمر الثلاث بمحضر من الصحابة وتقرر الأمر علی ذلک يدل علی ثبوت الناسخ عندهم وان کان قد خفی ذلک قبله فی خلافة ابی بکر، ثم نقل المفسر فتوی ابن عباس عن ابي داؤد والطحاوي ومالک وفتوی ابن مسعود رضي الله عنه عن الموطا وعبدالرزاق وفتوی ابي هريرة مع ابن عباس عن ابی داود ومالک وفتوی ابن عمر عن مالک وفتوی علی عن وکع وفتوی عثمان عن وکيع وورواية طلاق ابی عبادة بن الصامت ان اباه طلق امرأة له الف تطليقة وانطلق عبادة فسأل رسول الله صلی الله

عليه واله وسلم فقال رسول الله صلى الله عليه وسلم بانت بثلث فى معصية الله الحديث عن عبدالرزاق وروى الطحاوى عن انس قال لاتحل له حتى تنكح زوجا غيره وروى ايضا عن انس عن عمر فيمن طلق البكر ثلثا انه لا تحل له حتى تنكح زوجا غيره وحديث ابن عباس يمكن تأويله بان قول الرجل انت طالق انت طالق انت طالق كان واحدة فى الزمن الاول لقصدهم التاكيد فى ذلك الزمان ثم صاروا يقصدون التجديد فالزمهم ثلثا بما علم قصدهم الخ وحديث ركانة قال طلقها ثلثا فى مجلس واحد قال انما تلك طلقة واحدة فمنكر الخ والتفصيل فى التفسير المظهرى.

وفى الفتاوى الخيرية (سئل) في شخص طلق زوجته ثلثا مجتمعا فى كلمة واحدة فهل يقعن ام لا وهل اذا رفع الى حاكم حنفى المذهب يجوز له تنفيذ الحكم بعدم الوقوع اصلا او بوقوع واحدة او يجب عليه ان يبطله وهل اذا نفذ ينفذ ام لا؟ (اجاب) نعم يقعن اعني الثلاث فى قول عامة العلماء المشهورين من فقهاء الامصار ولاعبرة بمن خالفهم فى ذلك اوحكم بقول مخالفهم الى ان قال فى الاستدلال على هذا نقلا عن الكمال بن الهمام اما اولا فاجماعهم ظاهر فانه لم ينقل عن واحد منهم انه خالف عمر حين امضى الثلاث الخ وقال بعد هذا القول وقد اثبتنا عن اكثرهم صريحا بايقاع الثلاث ولم يظهر لهم مخالف فماذا بعد الحق الا الضلال وعن هذا قلنا لوحكم حاكم بان الثلاث بفم واحد طلقة واحدة لم ينفذ حكمه لانه لايسوغ فيه الاجتهاد فهو خلاف لا اختلاف فقد ظهر لك بذلك انه لايجوز لاحد تنفيذه ولا العمل به وانه لاينفذ بالتنفيذ بل يجب على كل من رفع اليه من الحكام الحنفية وغيرهم ممن يعتقد عدم جوازه ان يبطله كما فى المجتبى وغيره وفيه ان اصحابنا لم يجعلوا قول من نفى الوقوع خلافا لانهم اوجبوا الحد على من وطئها فى العدة وقال الشربينى وحكى عن الحجاج بن الارطاة وطائفة من الشيعة والظاهرية انه لا يقع منها الا واحدة واختاره من المتأخرين من لا يعبأ به فافتى به واقتدى به من اضله الله تعالى وقول المحقق الكمال وقول بعض الحنابلة القائلين بهذا المذهب صريح فى انهم لم يجمعوا عليه وانما هو قول البعض منهم وهو كذلك فقد افتى من ظهر الله فؤاده منهم وفتح عن بصيرته بما وافق الاجماع من يهدي الله فهو المهتدي ومن يضلل فلن تجد له وليا مرشدا. والله اعلم فتاوى خيريه (ج۱ ص۴۳ – ۴۴ مصرى).

يو طلاق دوه طلاقه درى طلاقه به درکړم، که دا جمله ووايي نوځه حکم دی؟ سوال: (۵۱۲)

زيد خپلي مدخولي ښځي ته داسي ووېل يو طلاق دوه طلاقه درى طلاقه به درکړم نو

اوس په دي کي اختلاف دی زيد او دزيد ښځه وايي چي ماته يي داسي وويل چي يو طلاق دوه طلاقه دری طلاقه به درکړم نو طلاق به واقع سي اوکه نه؟ او دکلي خلګ وايي چي زيد وويل يو طلاق دوه طلاقه دری طلاقه بائن مي درکړل نو په دي صورت کي دچاقول معتبر دی؟

جواب: که ددي ځای دوه عادل ثقه سړي شاهدي ورکوي چي زموږ په مخ کي زيد وويل چي يو طلاق دوه طلاقه دری طلاقه مي درکړل نو دری طلاقه دده پرښځه واقع سوه دزيد او دده دښځي قول به معتبر نه وي [1] اوکه څوك سم باقاعده شاهد نه وي نو دزيد قول معتبر دی او طلاق به نه وي واقع.

<u>دغصي دری طلاقه هم دری کيږي</u>: **سوال**: (۵۱۷) زيد خپلي ښځي هندي ته دخفګان په وجه دغصي په حالت کي دری ځله په يوه وخت کي طلاق ورکی حال دادی چي دده نيت اواراده دهغي دبيلولو نه وه خو دغصي په وجه دزيد څخه دا کار وسو اوس زيد خپله ښځه مطلقه هنده بيا په خپله نکاح کي راوستل غواړي بي له حلالي يي بيرته په نکاح کي راوستلای سي او که نه؟

جواب: په دي صورت کي حلاله ضروري ده بي له حلالي زيد دهندي مطلقی ثلاثي سره دوهم وار نکاح نه سي کولی [2] او حلاله داده چي کله دهندي عدت (دری حيضه) تير سي نو دبل سړي سره به نکاح وکړي بيا به هغه سړی وروسته دصحبت او وطی څخه طلاق ورکړي بيا دعدت (ددريو حيضو) دتيريدو څخه وروسته دزيد سره نکاح صحيح کيدای سي لکه چي الله پاك فرمايي: فان طلقها فلا تحل له من بعد حتى تنكح زوجا غيره. [3]

<u>دری طلاقه يی ورکړل نو دری سره واقع سوه</u>: **سوال**: (۵۱۸) زيد خپلي ښځي ته ددريو شاهدانو په مخکي دری طلاقه ورکړل نو په دي صورت کي به دری طلاقه واقع وي اوکه نه؟

---

[1] ونصابها اى الشهادة لغيرها من الحقوق سواء كان الحق مالا او غيره كنكاح وطلاق الخ رجلان او رجل وامرأتان (الدرالمختار على هامش ردالمحتار كتاب الشهادة ج۴ ص۵۱۵. ط. س. ج۵ ص۴۶۵). ظفير

[2] ويقع طلاق من غضب خلافا لابن القيم (ردالمحتار كتاب الطلاق ج۲ ص۵۸۷. ط. س. ج۳ ص۲۴۴ مطلب فى طلاق المدهوش) وان كان الطلاق ثلاثا فى الحرة الخ لم تحل له حتى تنكح زوجا غيره نكاحا صحيحا ويدخل بها ثم يطلقها او يموت عنها (هدايه باب الرجعة ج۲ ص۳۷۸) لا ينكح مطلقة بها اى بالثلاث حتى يطأها غيره بنكاح تمضى عدة الثاني (الدرالمختار على هامش ردالمحتار باب الرجعة ج۲ ص۷۳۹ ط. س. ج۳ ص۴۵۹ مطلب فى العقد على المباينة). ظفير

[3] سورة البقرة ۲۹۲. ظفير

جواب: په دي صورت کي به دری طلاقه دده پرښځه واقع سي هيڅ تردد ددريو طلاقو په وقوع کي نسته هکذا في عامة کتب الفقه قال فی الدرالمختار ويقع طلاق کل زوج بالغ (۱) الخ وفی باب الصريح منه الصريحة ما لا يستعمل الا فيه کطلقتك وانت طالق ومطلقة. (۲)

چي مطلقه نکاح وکړي او دويم ميړه بي له دخوله طلاق ورکړي نو داول ميړ سره نکاح کيدای سي اوکه نه؟ سوال: (۵۱۹) که يوه سړی خپلي ښځي ته طلاق ورکی اوښځي دبل خاوند سره نکاح وکړه او هغه دخلوت څخه مخکي طلاق ورکی نو داول ميړه لپاره دا جائزه ده اوکه نه؟

جواب: که يي دری طلاقه ورکړي وي نو بي له حلالي داول ميړه لپاره حلاله نه ده او په حلاله کي ددوهم ميړه وطی شرط ده (۳) (اوکه يي يو طلاق ورکړي وي نو ددويم ميړه دطلاق ورکولو څخه وروسته بي له خلوته څخه داول ميړه سره نکاح صحيح ده. ظفير)

ددريو طلاقو په صورت کي دامام شافعي رحمه الله په مذهب عمل جائز دی اوکه نه؟ سوال: (۵۲۰) يوه سړي خپلي ښځي ته په يوه ځل اته طلاقه ورکړل خو ددواړو اړخونو دډير محبت او ميني په وجه مجبور او ناچار دی چي دامام شافعي رحمه الله په مذهب په عمل کولو سره نکاح وتړي نو دا جواز لري اوکه نه؟

جواب: په دي صورت کي عمل په مذهب دامام شافعي او نورو جائز نه دی بي له حلالي داول ميړه ددي سره نکاح کول حرام قطعي دي. قال الله تعالی: فان طلقها فلا تحل له من بعد حتی تنکح زوجا غيره. الاية (۴) پاته دي نه وي چي محققين عالمان ليکي چي څوك بي له حلالي دمطلقي ثلاثي سره نکاح جائزه ګڼي نو هغه ګمراه دی او ددين دامامانو په دي کي هيڅ اختلاف نسته په دي کي روافض اختلاف کوي نه اهل السنة والجماعة (۵).

---

(۱) الدرالمختار علی هامش ردالمحتار کتاب الطلاق ج۲ ص۵۷۹. ط. س. ج۳ ص۲۳۵. ظفير

(۲) ايضا ج۳ ص۵۹۵. ظفير

(۳) وان کان الطلاق ثلثا الخ لم تحل له حتی تنکح زوجا غيره ويدخل بها ثم يطلقها اويموت عنها (هدايه باب الرجعة ج۲ ص۳۷۸). ظفير

(۴) سورة البقرة رکوع ۲۹. ظفير

(۵) دامام شافعي په نزدهم دری طلاقه واقع دي په حديث نبوي کي دي: عن عائشة رضی الله عنها قالت طلق رجل امرأته ثلاثا فتزوجها رجل ثم طلقها قبل ان يدخل بها فاراد لزوجها الاول ان تزوجها فسئل رسول الله ﷺ من ذلك فقال لا حتی يذوق الآخر من عسيلتها کما ذاق الاول (مسلم کتاب الطلاق ج۱ ص۴۶۳) په دي باندي امام نووي رحمه الله ليکلي دي: وبه قال جميع العلماء من الصحابه والتابعين، دلته امام نووي ليکي: وقد اختلف العلماء فيمن قال لامرأته انت طالق ثلاثا فقال الشافعي ومالك وابوحنيفة واحمد وجماهير العلماء عن

په يوه مجلس کی دری طلاقه واقع کيږي؟ **سوال**: (۵۲۱) که يوه سړی په يوه مجلس کي دری طلاقه خپلي ښځي ته ورکړل نو طلاق واقع کيږي اوکه نه؟

جواب: دری طلاقه واقع کيږي او ښځه مغلظه بائنه ګرځي او بي له حلالي اول ميړه ددي سره نکاح نه سي کولای کما قال الله تعالی: فان طلقها فلا تحل له من بعد حتی تنکح زوجا غيره، الآيه (۱) او احنافو فقهاوو تصريح کړي ده چي په يوځل دری طلاقه ورکولو سره دری طلاقه واقع کيږي: کما فی الدرالمختار والبدعي ثلث متفرقة او ثنتان بمرة اومرتان فی طهر واحد لا رجعة فيه قال فی الشامي قوله ثلث متفرقة وکذا بکلمة واحدة الخ ثم قال وذهب جمهور الصحابة والتابعين ومن بعدهم من أئمة المسلمين الی انه يقع ثلث الخ (۲).

دغصي په حالت کي يې ښځي ته مور او خور وويله نوڅه حکم دی؟ **سوال**: (۵۲۲) که يوه سړي خپلي ښځي ته مور او خور وويله نوڅه حکم دی اوکه په غصه کي يي دری طلاقه ورکړل نو طلاق واقع کيږي اوکه نه؟ او بيا ساتل ددي ښځي صحيح دي اوکه نه؟

جواب: خپلي ښځي ته صرف داويل چي ته زما مور او خور يي په دي سره طلاق نه واقع کيږي دا ښځه دپخوا په څېر دده ښځه ده (۳) اوکه يوه سړي په غصه کي دری طلاقه خپلي ښځي ته ورکړل نو دری طلاقه پرهغي واقع کيږي اوبي له حلالي بيا ددي سره نکاح نه سي کولای.

غير مدخولي ښځي ته او ددې سره تړلي حکمونه او مسئلې

غير مدخوله ښځي ته يی يو طلاق ورکی نو څه حکم دی؟ **سوال**: (۵۲۳) محمد بيګ دخپلي لور نکاح داتوکلو په عمر کي دمحمد اسماعيل نومي سره وکړه دانجلۍ عمر اوس پنځلس کاله دی ددريو کلو راهيسي، چي ددي څخه مخکي دښځي او دميړه هيڅ تعلق نه وو سره، محمد اسمعيل دخپلي ښځي په باره کي په ژبه لفظ دطلاق ويلی دی نوڅه حکم دی؟

السلف والخلف يقع الثلاث (مسلم ج۱ ص۴۷۸) بيا دا خبره هم ظاهره ده چي تلفيق باطل دی: فمن نکح مختلفا فيه فان قلد القائل بصحة او حکم بها من يراها ثم طلق ثلثا تعين التحليل وليس له تقليد من يری بطلانه لانه تلفيق للتقليد فی مسئلة واحدة وهو ممتنع قطعا (ردالمحتار باب الرجعة مطلب فی حيلة اسقاط التحيل ج۲ ص۷۴۵. ط. س. ج۳ ص۴۱۸). ظفير

(۱) سورة البقرة رکوع ۲۹. ظفير

(۲) ردالمحتار کتاب الطلاق ج۲ ص۵۷۲ ط. س. ج۳ ص۲۳۲. ظفير

(۳) او حذف الکاف الغا الخ ويکره قوله انت امي ويا ابنتي ويا اختي ونحو (درمختار) وفی الفتح وفی انت امي لايکون مظاهر وينبغی ان يکون مکروها (ردالمحتار باب الظهار ج۲ ص۷۹۴. ط. س. ج۳ ص۴۷۰). ظفير

جواب: که محمد اسمعيل دبلوغ په حالت کي خپلي ښځي ته طلاق ورکړي وي او دذکر سوي ښځي سره يي خلوت او وطی سوی وي نو عدت به پوره کړي او دابنځه دويمه نکاح کولای سي او عدت دحائضي دری حيضه ده (۱) او که دخول او خلوت نه وي سوي نو عدت لازم نه دی دطلاق څخه وروسته سمدستي بله نکاح کولای سي.

غير مدخولي دطلاق دعوه وکړه او ددروغو شاهدي يی هم وړاندي کړه او ميړه يې منکر دي نوڅه حکم دي؟ **سوال**: (۵۲۴) يوه ښځه غير مدخوله ديوه غير کفو سړي سره وتښتيدله او دعوه يي وکړه چي زما ميړه ماته طلاق راکړی دی او دي زانيي ښځي ددروغو شاهد هم وړاندي کی او دناکح له لوري دعدم طلاق شهادت ثابت دی نو په دي صورت کي څه حکم دی؟

جواب: که ښځي دوه معتبر لمونځ ګذار پرهيزګار شاهدان وړاندي کړي وي نو حکم دطلاق به وکړل سي اوکه معتبره شاهدي نه وي نو طلاق نه دی واقع دميړه انکار دحلف سره معتبردی (۲).

دودولو څخه وړاندي يي يو دوه طلاقه ورکړه نو څه حکم دي؟ **سوال**: (۵۲۵) زيد خپلي منکوحي ښځي هندي ته تر را ودولو اووطی مخکی په يوه جلسه کي يو ځل يادوه ځله لفظ دطلاق په غصه کي ووايه په دي ويلو سره خو به په نکاح کي څه نقصان نه وي راغلی اوکه طلاق واقع سوی وي نو نکاح به څنګه صحيح کيدای سي؟

جواب: غير موطوءه په يوه صريح طلاق سره بائنه ګرځي او بيا دنوي نکاح پرته ديته رجوع صحيح نه ده (۳) که دواړه راضي وي نو بيا نوي نکاح کيدل په کار دي او دحلالي ضرورت نسته.

ښځي ته يې وويل طلاق طلاق بائن مي درکی نوڅو طلاقه واقع سوه؟ **سوال**: (۵۲۶) چاچي خپلي موطوئي يا غير موطوئي ښځي ته دغصي په حالت کي وويل طلاق طلاق بائن طلاق مي درکی تاته، اوس پرښځه څو طلاقونه واقع سوه او ميړه داپه نکاح کي ساتلای سي اوکه نه؟

---

(۱) قال لزوجته غير المدخول بها انت طالق ثلاثا الخ وقعن وان فرق بوصف اوخبر اوحمل بعطف اوغيره بانت بالاولى لا الى عدته ولذا لم تقع الثانيه بخلف الموطوئة حيث يقع الكل (الدرالمختار على هامش رد المحتار باب طلاق غير المدخول بها ج۲ ص۲۲۴. ط. س ج۳ ص۲۸۴). ظفير

(۲) ونصابها اى الشهاده لغيرها من الحقوق وسواء كان الحق مالا اوغيره كنكاح وطلاق الخ رجلان او رجل وامرأتان (ايضا كتاب الشهادات ج۴ ص۵۱۵. ط. س. ج۵ ص۴۶۵). ظفير

(۳) وان كان الطلاق بائنا دون الثلاث فله ان يتزوجها فى العدة وبعد انقضاءها (هدايه باب الرجعة ج۲ ص۳۷۸). ظفير الدين غفر له

سوال: (**۵۲۷**) يو سړي يي ووهي او ويي ټکوي او دده ښځه يي خسرګنئ. بائن طلاق واخيستي دا ښځه بي له تحليل ځخه چي داسړي ورسره نکاح وکړي ساتلاى سي اوکه نه؟ او چي کم خلك بي له تحليل ځخه نکاح ته جائز وايي نو ايا دهغو خبره صحيح ده؟

جواب: (۱) په دي صورت کي پرموطوءه باندي دري طلاقه واقع سوه اوپر غير موطوءه باندي يو بائن طلاق نو دموطوءه والي په صورت کي يي بي له حلالي دده سره نکاح نه ده صحيح او دغيرموطوءه والي په صورت کي بي له حلالي دده سره نکاح صحيح ده (۱).

جواب: (۲) که مطلقه موطوءه وي نو بي له حلالي ددي سره نکاح نه سي کولاى او ورته جائز ويونکي ګنهګار او جاهل دى او په غير موطوءه کي دجواز دنکاح حکم صحيح دى. (۲)

غير مدخولي ښځي ته يي ويل دري طلاقه درکوم نو اوس دوباره نکاح کولاى سي اوکه نه؟

سوال: (**۵۲۸**) ذاکر على خپلي غير مدخولي ښځي ته وويل چي زه دري طلاقه درکوم اوس دى دوبا ره نکاح کولاى سي اوکه نه؟

جواب: غير مدخولي ته که دري طلاقه په يو ځل ورکړل سي مثلا داسي چي پرتا دري طلاقه دي نو په دي باندي دري طلاقه واقع کيږي نو ددي وجهي په دي صورت کي که ذاکر على خپلي ښځي ته دري طلاقه په يوځل ورکړي وي نو بي له حلالي ذاکر على ددي سره دوبا ره نکاح نه سي کولاى، درمختار. (۳)

که ما دبلي ښځي سره نکاح کړي وه نو هغي ته دنن ورځي ځخه يو دوه دري طلاقه ورکوم، نو مخکي په نکاح سوي غير مدخولي ته به ځوطلاقه وي؟ **سوال:** (**۵۲۹**) يوه سړي خپلي ښځي ته دا وهم ليکل او وريي هم کړل اوپه ژبه يي اقرار هم وکى چي ماکه ستا ځخه بغير ديوي ښځي سره نکاح هم کړي وي نوهغي ښځي ته دنن ځخه ۱، ۳,۲ طلاقه ما ورکړل اوس معلومه سوه چي ذکر سوي سړي ددي شرط ځخه وړاندي ديوي ښځي سره

---

(۱) قال لزوجته غير المدخول بها انت طالق ثلاثا الخ وقعن الخ وان فرق الخ بانت بالاولى الخ ولذا لم تقع الثانية بخلاف الموطوئة حيث يقع الكل (الدرالمختار على هامش ردالمحتار باب طلاق غير المدخول بها ج۲ ص۲۲۴ – ۲۲۲. ط. س. ج۳ ص۲۸۴). ظفير

(۲) واذا كان الطلاق بائنا دون الثلث فله ان يتزوجها فى العدة وبعد إنقضائها الخ وإن كان الطلاق ثلثا فى الحرة الخ لم تحلله حتى تنكح زوجا غيره نكاحا صحيحا ويدخل بها ثم يطلقها او يموت عنها الخ (هدايه باب الرجعة فصل فيما تحل به الطلقة ج۲ ص۳۷۸). ظفير

(۳) قال لزوجته غير المدخول بها انت طالق ثلاثا الخ وقعن (الدرالمختار على هامش ردالمحتار باب طلاق غير المدخول بها ج۲ ص۲۲۴ ط. س. ج۳ ص۲۸۴) ولا ينكح مطلقة بها اى بالثالث حتى يطأها غيره بنكاح وتمضى عدة الثاني (ايضا باب الرجعة ج۲ ص۷۳۹. ط. س. ج۳ ص۴۰۹). ظفير

پته نکاح کړي وه او دغه ښځه غیر مدخول بها ده نوپر دغه ښځه به په دي شرط یو طلاق واقع وي اوکه دری طلاقه (۱، ۲، ۳) طلاق که جلا جلا طلاق شمار کړل سي یو طلاق به واقع وي اوکه نه نو دری طلاقه به واقع سي او دا صورت دطلاق دتفریق دی اوکه څنګه؟ (۱ ، ۲) خو عدد دی معدود یي طلاق دی اوکه بل څه؟

جواب: عدد ۱، ۳،۲ ظاهره ده چي صفت دطلاق دی او تفریق په صفت کي دا په مثل دتفریق دطلاق دی نو ددي وجهي په ذکر سوي صورت کي ښځه غیر مدخوله په یوه طلاق بائنه سوه اوثاني اوثالثه پردي نه واقع کیږي: کما فی الدرالمختار وان فرق بوصف او خبر او جمل بعطف او غیره بانت بالأولی لا إلی عدة. (۱)

چي غیر مدخولي ښځي ته مغلظ طلاق ورکړي نوڅه حکم دی؟ سوال: (۵۳۰) یوچا وویل چي زما ښځي ته مغلظ طلاق دی او دده ښځه غیر مدخوله وه نوپر دي کم طلاق واقع سو؟

جواب: په دي صورت کي طلاق بائن واقع سو اوکه یي نیت ددریو طلاقو وي نو دری طلاقه واقع سوه: کما فی الدرالمختار ویقع بقوله انت طالق بائن (الی ان قال) او اغلظه او اعظمه واحدة بائنة ان لم ینو ثلاثا الخ (۲).

په لاندي پوښتل سوي صورت کي نوي نکاح بي حلالي صحیح ده: سوال: (۵۳۱) ما قولکم رحمکم الله چي زید قسم وکی چي که زه دعمر کور ته داخل سوم نو زما پرښځه به چي نوم یي میمونه دی یو طلاق دری طلاقه واقع وي په ناڅاپي توګه زید په دي قسم کي حانث سو اودعمر کور ته داخل سو حال دادی چي دزید ښځه غیر مدخوله ده نو په دي صورت کي پرمیموني دزید پرښځي طلاق واقع سو اوکه نه؟ او که واقع وي نو دحلالي صورت به څنګه وي ایا صرف نوی عقد کافي دی اوکه حلالي ته اړتیا سته؟

جواب: قال فی الدرالمختار فی باب طلاق غیر المدخول بها وتقع واحدة ان قدم الشرط الخ (۳) نوپه پوښتل سوي صورت کي چي شرط مقدم دی اوښځه غیر مدخوله ده او طلاق متفرق ورکړل سوی دی نو ددي وجهي دشرط دتحقق په وجه یو طلاق واقع سو او ښځه دده به بائنه سوه اونور به پرهغي واقع نه وي او نوي نکاح بي له حلالي ددی سره صحیح ده: وان فرق بانت بالاولی ولم تقع الثانیة الخ درمختار. (۴)

---

(۱) الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب طلاق غیر المدخول بها ج۲ ص۲۲۲. ط. س. ج۳ ص۲۸۲. ظفیر
(۲) الدرالمختار علی هامش ردالمحتار کتاب الطلاق بالصریح ج۲ ص۲۱۷. ظفیر
(۳) الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب طلاق غیر مدخول بها ج۲ ص.... ط. س. ج۳ ص۲۸۲. ظفیر
(۴) ایضا ج۲ ص۲۲۲. ط. س. ج۳ ص۲۸۲. ظفیر

که څوک غیر مدخولي ښځې ته دری طلاقه ورکړي نويو به واقع وي: سوال: (۵۳۲) يوه سړي خپلي غير مدخولي ښځي ته دری متفرق طلاقونه ورکړل دشاهدانو وينا ددي خبري تصديق کوي نو په دی صورت کي کم طلاق واقع سو؟

جواب: دغير مدخولي حکم دادی چي که په يوه کلمه سره ديته دری طلاقه ورکړل سي نو دری واړه طلاقه ورباندي واقع کيږي کما يقول انت طالق ثلاثا، أوکه په بيلا بيل ډول طلاق ورکړي نو دا په يوه طلاق سره بائنه ګرځي دويم او دريم طلاق به پردي نه واقع کيږي: وان فرق بوصف او خبر او جعل بعطف اوغيره بانت بالاولى لا الى عدة الخ، درمختار [۱] نو په پوښتل سوي صورت کي لکه څنګه چي دشاهدانو بيان دی دهغه موافق دده پر غير مدخوله ښځه باندي يو بائن طلاق واقع سو.

څلورم باب: کنايات

په داسي الفاظو سره طلاق ورکول چي په هغوکي دبلي معنی سره سره دطلاق معنی هم وي ددي ماته هيڅ ضرورت نسته، دا يي وويل، دا جمله کنايي ده په دې سره به طلاق واقع سي:

سوال: (۵۳۳) يوه سړي ديوي ښځي سره دا وعده وکړه چي زه به ستا سره ټول عمر اوسيږم او خدمت به دي ډير کوم او هيڅ کله به تکليف نه درکوم نو نکاح يي وکړه او دنکاح څخه وروسته يي وعده خلافي وکړه تکليف اوزيان ور رسول يي په پراخه پيمانه پيل کړل ايا اوس به دا نکاح باقي وي او چي دڅاسره يي نکاح کړي ده نوهغه دوه ځله دا هم ويلي دي چي کمه انجلۍ ستاسو زماپه نکاح کي ده هغي ته زما هيڅ ضرورت نسته ايا په دي صورت کي به نکاح باقي وي اوکه نه؟

جواب: که ميړه داسي ووايي چي که ما دوعدي مخالفت وکی نو زما پرمنکوحه به طلاق وي نو دوعده خلافي په صورت کي به دده پرښځه طلاق وي او طلاقيږي کما هو حکم التعاليق خو په دي صورت کي چي ميړه داسي نه دي ويلي او طلاق يي په وعده نه کولو نه دی معلق کړی نو ددي وجهي طلاق واقع نه سو اوچي کم الفاظ ميړه خپلي ښځي ته ويلي دي چي زما ديته ضرورت نسته نو دا الفاظ دکنايي دي په دوی کي که نيت دطلاق وي نو طلاق واقع کيږي کني نه، نو دميړه څخه دي پوښتنه وسي چي ده په کم نيت سره دا الفاظ ويلي دي [۲].

---

[۱] ردالمحتار باب طلاق غير مدخول بها ج۲ ص۶۲۲. ط. س. ج۳ ص۲۸۶. ظفير

[۲] وسئل الك امرأة فقال لا لا تطلق اتفاقا وان نوي (درمختار) ومثله قوله لم اتزوجك او لم يكن بيننا نكاح اولا حاجة لي فيك بدائع، لكن فی المحیط ذکر الوقوع فی قوله لا عند سواله ولو قال لا نكاح بيننا ايقع الطلاق والاصل ان نفی النكاح اصلا لايكون طلاقا بل يكون جحودا ونفی النكاح فی الحال يكون طلاقا اذا نوی وما =

دا لفظ (پري مي ښوده) كه يې په نيت دطلاق وليكي نو طلاق باين واقع سو: **سوال**: (۵۳۴) يوه سړي خپل خسر ته وليكل چي ما ستا لور دهغي دبدي خولي په سبب پرينبودله نو دده پر ښځه طلاق واقع سو اوكه نه؟

جواب: كه دا لفظ ميړه په نيت دطلاق ليكلي وي نو دده ښځه بائنه طلاقه سوه (١) او دنوي نكاح سره رجوع كولای سي او دحلالي ضرورت نسته.

دطلاق په نيت سره يې ووېل چي ښځه مي پرېښوده نو په درې ځله ويلو سره به يو بائن طلاق واقع وي: **سوال**: (۵۳۵) يوه سړي خپلي ښځي ته وويل چي: ماته پرينبودلي او داسي يې درې ځله په يوه مجلس كي وويل څلور شاهدان هم سته اوس دا ښځه دده دكور څخه ووتله او دبل په كور كي اوسيږي او چي دچا په كور كي اوسيږي دهغه څخه ددي دوه درې بچي هم وسوه اوس اول ميړه نه دا بيايي او نه طلاق وركوي چي كم سړي دا ساتلي ده اوس هغه توبه كول غواړي او نكاح كول غواړي ايا دده نكاح كول صحيح دي؟ نو په فقه كي يا په يو حديث كي يا په يو كتاب كي يا ديو امام په نزد جائز دي؟ او داول ميړه نكاح ماته سوه اوكه نه؟ او دبل سړي څخه چي يې كم اولاد دي نو هغه څنګه دي؟

جواب: كه اول ميړه په نيت دطلاق دا كلمه چي ته ما پرينبودلي ويلي وي نو دده پرښځه يو بائن طلاق واقع سو چي په كناياتو كي په څوځله ويلو سره هم په شرط دنيت يا په دلالة الحال سره يو واقع كيږي كذا في الدر المختار (٢) نوكه دطلاق په نيت ميړه ذكر سوي كلمه ويلي وي نو ښځه دعدت څخه وروسته (چي دحائضي دپاره درې حيضه دي) دبل سړي سره نكاح كولای سي كه يې دهغه كس سره كوي چي دچا په كوركي اوسيږي اوكه يې دبل چاسره، اوپه صورت دوقوع دطلاق كي كم اولاد چي يې دزاني څخه سوی دی هغه ولد الزنا دی خو كه اول ميړه په نيت دطلاق داكلمه نه وي ويلي اونه په دلالة الحال سره دوقوع دطلاق حكم كيدی بيا چي ترڅو اول ميړه طلاق نه وي وركړی او عدت يې نه وي تير سوی دبل سړي سره يې نكاح ناجائزه ده.

د (پري مي ښودي) لفظ بائن دي صريح نه دي: **سوال**: (۵۳٦) يوه سړي وويل چي ما دفلاني سړي لور پرينبوده په دي لفظ كي تاسو كم لوري ته ترجيح وركوي ځكه چي ځيني عالمان دي لفظ ته بائن وايي اوځيني نور ورته صريح، دكتابونو په حواله جواب وليكئ؟

= عداه فالصحيح انه على هذا الخلاف آه (ردالمحتار باب الصريح ج٢ ص٦٢٣. ط. س. ج٣ ص٢٨٣). ظفير

(١) حواله يې تيره سويده. ظفير

(٢) لا يلحق البائن البائن (الدرالمختار على هامش ردالمحتار باب الكنايات. ط. س. ج٣ ص٢٣٦. ظفير

جواب: دپرېښودلو لفظ دسرحتك او دفارقتك ترجمه ده نو لكه څنګه چي دسرحتك او فارقتك لفظ كنايي دی دهغه ترجمه هم كنايي بلل كيږي په نيت او دلالت الحال سره به طلاق واقع وي او دپرېښودو لفظ لكه څنګه چي دنكاح دپرېښودو په باره كي ويل كيږي دنفقي نه وركولو او خبر نه اخيستلو په هكله هم ويل كيږي او دزوجيت دحقوقو دنه ادا كولو په باره كي هم ويل كيږي، كذا في الدرالمختار باب الكنايات.

هيڅ تعلق مي نسته ورسره، په دې ويلو سره كه دطلاق نيت وو، نو طلاق واقع سو: **سوال**:

(**۵۳۷**) دبالغي زينب نكاح دبالغ عمر سره سوي وه خو دعقد او دواده په دويمه ورځ دبي اتفاقي لومړی پيل دزينب لخوا او بيا دعمر له طرفه وسو، تر دوو كلو پوري پردي دوهلو ټكولو تكليف وو چي كله دمور كور ته راغله نو مور او پلار كښېنوله عمر خپل خپلوان را مينځ ته كړل او قسم يي وكی چي وهل او ټكول به نه كوم خو بيايي دوعدي خلاف وكړل تر دوو كلو پوري څو ځله په دي ډول دزينب تلل راتلل وو خو دری كاله وسوه چي عمر خپله منكوحه وهلي ټكولي او دټولو ګڼو جامو او نورو سامانونو سره دمور كورته راوستل، او دايي ورته وويل چي ماته مخ مه را ښكاره كوه او زما سره دي هيڅ تعلق نسته تردي وروسته يي دوهم عقد وكی نو په دي حالت كي زينب دبل واده حقداره ده اوكه نه؟ ځكه چي عمر نه جرګي ته كښيني او نه سم جواب وركوي.

جواب: ترڅو چي زينب ته عمر طلاق ورنه كړي نو هيڅ صورت دجلا كيدو نسته او دكومو الفاظو دويلو سره چي عمر زينبه راوستلي ده كه يي په دي الفاظو كي دطلاق نيت وو نو بائن طلاق به واقع وي (١) دعدت څخه وروسته به دوهمه نكاح كوي او كه يي نيت دطلاق نه وي كړی نو طلاق نه واقع كيږي ددي پوښتنه دي دميړه څخه وسي په دي صورت كي دي عمر ته وويل سي او دی دي دعريضي يابل څه په ذريعه مجبور كړل سي چي يا خو دي دښځي خبر واخلي ډوډی او نفقه وركړي او يا دي طلاق وركړي.

د (پرې مي ښودله) لفظ بائن دی صريح نه دی: **سوال**: (**۵۳۸**) د (پرې مي ښودله) لفظ بائن دی اوكه رجعي؟ يو سړي چي دخپلي ښځي نوم واخلی او ووايي چي ما ته پرېښودلي نو په دي صورت كي څه حكم دی؟

جواب: په درمختاركي دي: ويقع بباقيها اى باقي الكنايات المذكورة الخ البائن ان نواها

---

(١) فالكنايات لا تطلق بها قضاءً الا بنية او دلالة الحال الخ فنحو اخرجي واذهبي الخ سرحتك فارقتك (الدرالمختار على هامش ردالمحتار باب الكنايات ج٢ ص٦٣٥ – ٦٣٩ ط. س. ج٣ ص٢٩٧) ويقع بباقيها اى باقي الفاظ الكنايات المذكورة الخ البائن ان نواها (الدرالمختار على هامش ردالمحتار باب الكنايات ج٢ ص٢١۴). ظفير

الخ ای ان نوی الواحدۃ شامي (۱) ددي څخه مخکي دسرحتك اوفارقتك لفظ چي ترجمه يي داده (ماته پرېښي يي) ذكر سوی دی كه په دي لفظ دپرېښودلو كي دطلاق نيت وي نو يو بائن طلاق واقع كيږي، اوپه فارقتك كي دنيت دضرورت وجه شامي ليکلي ده: وكذا فارقتك لاني طلقتك فی هذا المترل (۲) اوپه عرف كي دپرېښودلو لفظ لکه څنګه چي دطلاق لپاره ويل كيږي دمعلقي پرېښودلو لپاره هم ويل كيږي قال الله تعالی: ولن تستطيعوا ان تعدلوا بين النساء ولو حرصتم فلا تميلوا كل الميل فتذروها كالمعلقة (۳)، قال فی المدارك وهي التي ليست بذات بعل ولا مطلقة. (۴) فقط

زما ستا سره هيڅ تعلق نسته داجمله كه يي دطلاق په نيت وويل نوطلاق واقع سو: **سوال**: (**۵۳۹**) زيد خپلي ښځي ته څو ځله وويل چي ته دخپل مور اوپلار كور ته ولاړه سه زه بل واده كوونكی يم زما اوستا هيڅ تعلق نسته نو په دي صورت كي دده ښځه طلاقه سوه او كه نه؟

جواب: كه دمېړه په ذكر سوو الفاظو كي دطلاق نيت وي نو دده پر ښځی بائن طلاق واقع سو اوكه نه وي نه دی واقع سوی. قال فی الدرالمختار ففي حالة الرضاء تتوقف الاقسام الثلاثة علی نية الخ وفی الغضب الاولان الخ (۵).

په لاندېني صورت كي كه دطلاق نيت وي نو طلاق واقع سو: **سوال**: (**۵۴۰**) زيد دخپلي ښځي هندي څخه روپی غوښتي وي هغي دوركولو څخه انكار وكی زيد هندي ته بي حياء ښكنځل وكړه اوويي ويل چي كه دروپو دراكولو څخه انكار كوي نو زما ستا سره هيڅ تعلق نسته او ددي ځای څخه ولاړه سه نه زه ستا مېړه يم اونه ته زما ښځه يي په دي حالت كي طلاق واقع سو اوكه نه؟

جواب: په دي الفاظوكي كه يي دطلاق نيت وي نو طلاق واقع سو اوكه يي نه وي طلاق نه واقع كيږي، په درمختار كي دي: لست لك بزوج اولست لي بامراة الخ طلاق ان نوی آه (۶) اوپه شامي كي دي: وقيد بالنسبة لانه لايقع بدونه اتفاقا لكونه من الكنايات واشار الی انه لايقوم مقامها دلالة الحال لانه ذلك فيما يصلح جوابًا وهو الفاظ ليس هذا

---

(۱) وګورئ: ردالمحتار باب الكنايات ج۲ ص۷۴۱ – ۷۴۲، ط. س. ج۳ ص۳۰۲. ظفير
(۲) ردالمحتار باب الكنايات ج۲ ص۷۳۹، ط. س. ج۳ ص۳۰۰. ظفير
(۳) سورة النساء. ظفير
(۴) تفسير مدارك ج۱ ص۲۰۰. ظفير
(۵) الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب الكنايات ج۲ ص۷۴۰ . ط. س. ج ۳ ص ۳۰۰. ظفير
(۶) ايضا باب الصريح ج۲ ص ۷۲۳. ط. س ج ۳ ص ۲۸۳. ظفير

منها واشار بقوله طلاق الى ان الواقع بهذه الكنايات رجعي كذا في البحر الخ (۱). فقط

چيري چي ستا زړه غواړي ولاړه سه په دي ويلو سره په شرط دنيت طلاق واقع كيږي: **سوال**: (**۵۴۱**) زيد خپله ښځه ډيره ووهله او دكور څخه يي وايستله او دايي ورته وويل چي كم ځاى دي زړه غواړي هلته ولاړه سه ښځه دهغي ورونو بوتله اوس يي پنځه كاله پوره سوه چي نه يي ميړه راغلى او نه يي ډوډۍ او نفقي خبر واخستى نو طلاق واقع سو او كه نه؟ اوښځه دويمه نكاح كولاى سي او كه نه؟ او دعدى قيد به هم وي او كه نه؟

جواب: په دي صورت كي كه دميړه په دي الفاظو سره دطلاق نيت وو نو بائن طلاق په دي الفاظو سره واقع سو او دنيت كيدو يا دنه كيدو حال به دميړه څخه معلوميږى دده څخه دي پوښتنه وسي كه په نيت دطلاق ده دا الفاظ ويلي وي نو اوس عده تيره سوى ده ددي وجهي دويمه نكاح كول صحيح دي (۲).

ميړه دجملي دويلو څخه انكار كوى اوشاهدان نسته نوطلاق واقع نه سو: **سوال**: (**۵۴۲**) زيد دخپلي ښځي دمرګ څخه نهه لس مياشتي وروسته دهندي سره دويمه نكاح وكړه ترڅو ورځو پوري دهندي اوزيد په منځ كي محبت وو هندي په خوښه او خوشحالي سره دزيد دمخكى ښځي دزامنو هرډول خدمت دزيد دهداياتو مطابق كوى دڅه وخته راهيسي دزيد دزامنو دانا اوهندي تر مينځ جنجال راغى اوزيد دخپلي پخوانۍ خوابني طرفداري كوي او هنده دزيد څخه په دي وجهه ناراضه ده چي دزيد داولاد وغيره خدمت نه كوي زيد هنده ځوځله ووهله نو يوه ورځ ډير درد ورغى اوويي ويل كه ته زما داولاد او ددوي دانا خدمت نه كوي نوځه پرما حرامه يي نوهندي همداسي ددوي دخدمت څخه ځان ساتى زيد هنده ووهله او دكور څخه يي وايستله، اوس زيد صلحه غواړي او ددي جملي دويلو څخه انكار كوي؟ نو په دي صورت كي شرعا څه حكم دى؟ حال دادى چي ښځه ددي جملي دويلو دعوه كوي او ورته ثابت دي؟

جواب: زيد كه ددي جملي څخه انكار كوي او دحرام توري په ويلو اقرار نه كوي او دوه عادل شاهدان موجود نه دي نو دده انكار معتبر دى او دطلاق دواقع كيدو حكم نه كيږي اودميړه په حق كي داښځه حلاله ده خومسئله داده چي كه ښځه داخبره ثابتوي چي ميړه داسي الفاظ ويلي دي چي په هغو سره طلاق واقع كيږي نو ښځي ته دميړه څخه جلا اوسيدل په كاردي: والمرأة كالقاضى شامي درمختار، نو اوس كه دوى دواړه په خپل

(۱) ردالمحتار باب الصريح ج ۲ ص ۷۲۳. ط س. ج ۳ ص ۲۸۳. ظفير

(۲) ولو قال اذهبى اى طريق شئت لايقع بدون النية وان كان فى حال مذاكرة الطلاق (عالمگيري مصري باب الكنايات ج۱ ص ۳۷۲). ظفير

مینځ کي په ښځی او میړه اوسیدلو باندي راضي وي نو نکاح دي تازه کړي دا غوره او احوط دي. (۱)

دکور ښځه ووزه ته زما نه یي په کار، څوک چي داسي وایي نوځه حکم دی؟ سوال: (۵۴۳) زید خپله منکوحه سخته ووهله اودکور ښځه یي وایستله او دایي ورته وویل چي ته زمانه یي په کار دکور ښځه ووزه خو دطلاق لفظ یي نه دی ویلی او یو دوه کاله یي نفقه هم ورنه کړه اونه یي رجوع ورته وکړه نو په داسي حالت کي طلاق واقع سو اوکه نه؟

جواب: په دي الفاظو کي که دطلاق نیت وي نو یو بائن طلاق واقع سو چي په هغه کي نوي نکاح بي له حلالي صحیح ده او که یي دطلاق نیت نه وي نو طلاق نه سو واقع دابنځه اوس هم دده ښځه ده (۲).

ستا دلور اوزما ګذاره مشکله ده، دا یي ولیکل اونیت یي دطلاق نه وو، نوطلاق واقع نه دی:

سوال: (۵۴۴) میړه خپلي خواښي ته خط ولیکی چي ستا دلور او زما ګذاره مشکله ده اوس دي وایي چي دا لیکل ما پسي کړي وه: دتعلق ختمولو اراده نه مي وه، آیا په دی جمله سره بائن طلاق واقع سو او که نه؟

جواب: په دي صورت کي طلاق نه سو واقع ځکه چي ګذاره مشکله بلل، نه صریح طلاق دی او نه کنایي اوبیا په کنایي کي دنیت ضرورت وي او میړه له نیت څخه انکار کوي.

ته نکاح وکړه ښځی ته یي ولیکل نوطلاق واقع سو اوکه نه؟ سوال: (۵۴۵) عبد الکریم خان اول دستمبر په ۲۷ نیټه په کال ۱۹۱۵ کي زماپه نامه لیك لیکلی وو چي زما طرف ته نور امید مه ساته، که یي ساتي نو دطلاق امید ساته، ددې څخه وروسته یي دویم لیك ددسمبر په ۲۴ نیټه په کال ۱۹۸۱ کي زماپه نامه لیکلی وو چي که ته نکاح کوي نو ویي کړه؟ ددي دواړو خطونو نقل له استفتاء سره راوړل سوی دی ددي دواړو لیکونو مضامین طلاق ته رسیدلي دي اوکه نه؟ اوزه دعبد الکریم خان له نکاح څخه بیله سوي یم اوکه نه؟

جواب: په دي صورت کي یوبائن طلاق پرښځی واقع سو اودا دعدی څخه وروسته (چي دحائضي لپاره دری حیضه دي او دچا چي حیض نه راځي دهغې دپاره دری میاشتي دی) دویمه نکاح کولای سي ځکه چي دمیړه یعنی عبدالکریم خان له دویم لیك څخه ځرګندیږي چي ښځي دده څخه دطلاق غوښتنه په دي الفاظو کړي وه چي که تا باقاعده

---

(۱) وګوری ردالمحتار باب الصریح ج ۲ ص ۵۹۴: ط. س. ج ۳ ص ۲۵۱. ظفیر

(۲) فالکنایات لاتطلق بها قضاءً الا بنیة او دلالة الحال فنحو اخرجي واذهبي الخ (الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب الکنایات ج۲ ص ۲۳۵. ط. س. ج ۳ ص۲۹۲). ظفیر

طلاق را ونه لیږی نو زه بله نکاح کولای سم نو ددي په جواب کي میړه ولیکل (که ته نکاح کوي نو ویي کړه) او دا الفاظ کنایي دطلاق دی اوپه کنایي طلاق سره په نیت یا په دلالة الحال بائن طلاق واقع کیږي په درمختا ر کي دي: اذهبی وتزوجي تقع واحدة بلانیة الخ (١).

زما دښځوالي ځخه ووتلي، په دې ویلو سره په شرط دنیت طلاق واقع کیږي: سوال: (۵۴۶)

یوي ښځي دخپل میړه له مور او پلارسره جنګ وکی او دمیړه له خوښي پرته له کور ځخه ولاړه اوس دمور او پلار په کور کي اوسیږي او دمیړه داوینا ده چي داښځه چي دکم تاریخ ځخه زما دکور ځخه زما داجازي پرته وتلي ده دهغه وخته زما دنکاح او ښځیتوب ځخه وتلي ده اوس زه په هیڅ صورت کي دغه په خپل کور کي یا دښځي په ډول نه ساتم اونه مهر اونفقه ورکولای سم بلکي دهغو نقدو روپو اوګینو چي دهغې دشخصي سامانو ځخه بیلي دي یعني چي یوازي زما په وجهه جمع سوي دي دهغو داخیستو مستحق یم چي ښځي دځان سره وړي دي ایا ښځه دمیړه دنکاح ځخه جلا سوه اوکه نه؟ اوچي ترڅومره مودي پوري ښځه دپلار په کورکي اوسیدلي دا پر میړه دنفقي حق لري اوکه نه؟ دا ګیني اونقدي روپی چي دي دمیړه دکور ځخه دځان سره دمور او پلار کور ته وړي دي له دي امله چي هغه مال دمیړه دي نومیړه یی داخیستو حقدار دي اوکه نه؟

جواب: دښځي په وتلو اودمیړه داجازي بغیر په دباندي تللو سره پردي طلاق نه واقع کیږي او دمیړه له نکاح ځخه وځي نه، خو دمیړه داویل چي دا زما له نکاح او له ښځیتوب ځخه بهر سوه که دطلاق اچولو په نیت سوي وي نو ددي الفاظو دطلاق په نیت ویلو سره دده ښځه طلاقه سوه (٢)، تر مخه مطلقه نه وه او دداسي ښځي نفقه ساقطیږي چي دمیړه داجازي پرته دهغه له کوره ووزي اومهر یي نه ساقطیږي، مهر دمیړه پرذمه واجب الاداء دی او کمي ګیني چي دتلو په وخت کي دي ښځي له ځان سره وړي دي نو که په حقیقت کي میړه جوړي کړي وي او ورکړي یي وي او میړه دیته داهبه کړي نه وي نو دا دمیړه ملکیت دی او میړه یي بیرته اخیستلای سي.

چي‌کم لوري‌ته دي خوښه‌وي ولاړه سه په دي ویلوسره طلاق واقع سو اوکه نه؟ سوال: (۵۴۷)

---

(١) الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب الکنایات ج۲ ص ۷۵۲. ط. س. ج ۳ ص ۳۱۴. ظفیر

(٢) لا یقع بالکنایات الطلاق الا بنیة او دلالة الحال فنحو اخرجي واذهبي وقومي الخ (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب الکنایات ج ۲ ص ۷۳۵. ط. س. ج ۳ ص ۲۹۷) ولو قال انا بریٔ من نکاحك یقع الطلاق اذا نوی (عالمګیري مصري باب الکنایات ج ۱ ص ۳۷۲). ظفیر

رحیمه نومي ښځي ته ددي میړه حاضر خان وهل ورکړه او له کور څخه یي وایستله رحیمي دګذاري لپاره عریضه وکړه چي په همدي بناء حاضرخان دمهاراجه نابهه مرکز ته حاضر سو او له نفقي ورکولو څه یي عذر وکی چي زه دا ښځه له ځان سره نه ساتم چي چیري یي خوښه وي هلته دي ولاړه سي په حکم دسرکار دغه ذکر سوي ښځه ازاده کړله سوه له دینه وروسته دغه ذکر سوي ښځي له عبدالکریم خان سره دویمه نکاح وکړه داصحیح ده اوکه نه؟

جواب: که دي رحیمي نومي ښځي ته مخکني میړه طلاق ورکړی وي اورحیمی له عدی څخه وروسته دویمه نکاح دعبد الکریم سره وکړه نونکاح صحیح سوه په دي صورت کي په ده پسي لمونځ کول په کار دی اوکه درحیمي میړه صرف هم دا الفاظ ویلي وي چي زه داښځه دخپل ځان سره نه ساتم چي کم ځای یي خوښه وي نوهلته دي ولاړه سي نوکه یي دا لفظونه دطلاق په نیت سره ویلی وي نو دده پرښځی بائن طلاق واقع سو اوثاني نکاح دعدی له تیریدو څخه وروسته صحیح ده اوکه یي دهیڅ نیت نه وو نو طلاق واقع نه سو په دي صورت کي بله نکاح کول درحیمی صحیح نه ده نو داول میړه دزړه حال دي معلوم سی (۱).

ښځي ته یي وویل چي زما له خور سره برابره یي نو طلاق واقع سو اوکه نه؟ سوال: (۵۴۸) زید خپلي ښځي ته دجنګ په وخت کي وویل چي دا زما دخور برابره ده نوآیا په دي الفاظوسره طلاق واقع سو او که نه؟

جواب: وان نوی انت علی مثل امي اوکامي وکذا لو حذف علی، خانیة، براً او ظهاراً او طلاقًا صحت نیته ووقع ما نواه لانه کنایة وان لا ینو شیئا اوحذف الکاف لغا الخ درمختار (۲)، ددي څخه معلومه سوه چي دزید نیت په دي سره دطلاق وو نو یوطلاق بائن واقع سو په دویم ځل نکاح حلاله کیدای سي په عده کي اوله عدی څخه وروسته په هرحال کي نکاح صحیح ده اوکه یي دطلاق نیت نه وو نوطلاق واقع سو اونکاح باقي ده.

چي کم ځای دي خوښه وي نکاح وکړه ددي ویلو او لیکلو څه حکم دی؟ سوال: (۵۴۹) بکر خپل وطن پریښودی دتلو په وخت کي یي خپلي ښځي ته وویل چي که زه تر دریو کلو پوري رانغلم نوته چي کم ځای دي خوښه وي نکاح وکړه اوپه خط کي یي داهم ولیکل او ولیږل چي زبیده زما له کوره وباسي اوس دبکر یوولس کاله وسوه نو اوس زبیده طلاقه سوه اوکه نه؟ او دادویمه نکاح کولای سي او که نه؟

---

(۱) ولو قال لها اذهبی ای طریق شئت لایقع بدون النیة (عالمګیری مصري باب الکنایات ج۱ ص ۳۷۲). ظفیر

(۲) الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب الظهار ج ۲ ص ۷۹۴. ط. س. ج ۳ ص ۴۷۰. ظفیر

جواب: كه بكر دطلاق په نيت دا الفاظ ويلي وي اوپه ليدو كي يي ليكلي وي نو ددريو كلو له تيريدو وروسته په مخكى صورت كي اوپه وخت دتحرير په دويم صورت كي طلاق واقع سو او كه دنيت حال نه وي معلوم نو طلاق به واقع نه وي (۱) نور نو كه بكر مفقود سوى وي دمرگ اوژوند هيڅ نښه يي معلومه نه وي نو دمفقود كيدو له وخته څلور كاله وروسته به دده ښځه دوفات عده (لس ورځي اوڅلور مياشتي) پوره كړي او بيا دويمه نكاح كولاى سي. كما ذكره في الشامي (۲).

دري ځله يي وويل پري مي ښودلي نو آيا له دي ښځه وروسته نكاح ثاني كيدي سي؟ سوال: (الف\۵۵۰) رجل قال لامراته (ماته پرې ښودي) ثلاث مرات ثم ندم على ما فعل واراد ان ينكحها هل يجوز له ان ينكحها بدون التحليل؟

دري كاڼي يي وغورزول او ويي ويل ولاړه سه نو ددي حكم څه دي؟ سوال: (ب\۵۵۰) رجل طرح ثلاث مدارات الى امرأته وقال (ياڅه او ولاړه سه زما په كوركي مه كښينه) ما حكم طلاقه اى هى بائنة بتطليقه واحدة ام مطلقة بثلاث مغلظة فلاتحل له من بعد حتىٰ تنكح زوجا غيره؟

الجواب: ۱: ان تكلم بهذه الكلمات ناويًا الطلاق تبين بواحد ثم لاتقع اخرى لان البائن لايلحق البائن كذافى الدر المختار (۳) فيجوز له النكاح بها بلا تحليل.

الجواب.۲: في الشامي فلا يقع بالقاء ثلاثة احجار اليها اوبامرها بحلق شعرها وان اعتقد الالقاء والحلق طلاقا. انتهى وقوله (ياڅه ځه الخ) ان كان بنية الطلاق تقع به واحدة بائنة كمامر (۴) قضاءًا.

زما هيڅ په كار نه يي سرو كار مي درسره نسته دكنايي الفاظ دي په نيت سره طلاق واقع كيږي؟ سوال: (۵۵۱) زيد خپله ښځه هنده له كور څخه وايستله او ورته يي وويل ځه ته زما په كارنه يي تا ته دخپل نفس اختيار دى او په ليكونو كي يي دا هم وليكل چي زما

---

(۱) فالكنايات لا تطلق بها قضاءا الا بنية الخ فنحو اخرجي واذهبي وقومي الخ (الدرالمختار) قوله قضاءًا قيد به لانه لا يقع ديانة بدون النية ولو وجدت دلالة الحال فوقوعه بواحد من النية او دلالة الحال انما هو القضاء فقط كما هو صريح البحر وغيره (ردالمحتار باب الكنايات ج۲ ص ۷۳۵ - ۷۳۲. ط. س. ج ۳ ص ۲۹۷). ظفير

(۲) ولا يفرق بينه وبينها ولو بعد مضى اربع سنين خلافا لمالك (درمختار) وقد قال فى البزازية الفتوى فى زماننا على قول مالك (ردالمحتار كتاب المفقود ج۳ ص ۴۵۷. ط. س. ج ۳ ص۲۹۵، مطلب فى الافتاء بمذهب مالك فى زوجة المفقود) دتفصيل دپاره وگورى (الحيلة الناجزة) للتهانوى او كتاب الفسخ والتفريق للرحمانى. ظفير الدين

(۳) الدرالمختار على هامش ردالمحتار باب الكنايات ج ۲ ص ۱۰۷۴۲ ط. س. ج ۳ ص ۳۰۷. ظفير

(۴) ردالمحتار باب الصريح ج ۲ ص ۵۹۵. ط. س. ج ۳ ص ۲۳۰ تحت قوله ما لم يستعمل فيه. ظفير

له هندي سره هيڅ کارنسته زه دانه خوښوم مادا له خپل کور څخه ايستلی ده اوس هنده تقريبا له دولسو کلونو راهيسي دخپل ميړه زيد څخه بيله اوسيږي آيا په دي صورت کي بغير له نوره تحقيقه دهندي په حلفيه بيان باندي ددي نکاح له بل سړي سره کيدای سي او که نه؟

جواب: دا الفاظ چي ميړه په ژبه سره ويلي دي اويايي په ليك کي ليکلي دي کنايي الفاظ دي دصريح طلاق الفاظ نه دي په دي الفاظو کي نيت ته اعتبار وي او يا دلالة الحال ته اوکله چي دميړه نيت هيڅ معلوم نه وي او نه دطلاق ذکروي اونه ددرد حالت وي او دا الفاظ ووايي نو بيا په دي الفاظوسره طلاق نه واقع کيږي (1) او چي طلاق واقع نه سو نو دهندي دويمه نکاح صحيح نه ده.

زما لائقه نه يی زما ښځه نه يی او داسي نور دکنايي الفاظ دي که نيت وو طلاق به وي که نه وو نه به وي؟

سوال: (۵۵۲) زيد خپله ښځه بد چلند لرونکي وليدله نو دا الفاظ يي وويل دا زما لائقه نه ده چي کم ځای يي خوښه وي نکاح دي وکړي او اوس دی وايي چي ما طلاق نه دی ورکړی نو طلاق واقع سو او که نه؟

جواب: په دي الفاظو چي زيد خپلي ښځی ته وويل په نيت دطلاق سره طلاق نه واقع کيږي نو که زيد دطلاق له نيت څخه انکار کوي بيا طلاق نه واقع کيږي. هکذا فی کتب الفقه (2).

له خپل ښځيتوب (زوجيت) څخه مي بيله کړي، په دي جمله ليکلوسره طلاق وسو او که نه؟

سوال: (۵۵۳) زيد خپلي ښځي ته خط وليږی چي ما ته له خپل زوجيت څخه جدا کړي په دی صورت کي طلاق وسو او که نه که طلاق واقع سوی وي نو رجوع کيدای سي او که نه؟

جواب: که زيد دطلاق په نيت دا الفاظ ليکلي وي نو دده پرښځی باندي بائن طلاق (3)

---

(1) کناية عند الفقها اه ما لم يوضع له ای الطلاق واحتمله وغيره فالکنايات لاتطلق بها قضاء الا بنية او دلالة الحال وهي حالة مذاکرة الطلاق او الغضب الخ (الدرالمختارعلی هامش ردالمحتار باب الکنايات ج ۲ ص ۲۳۵. ط. س. ج ص ۲۹۲). ظفير

(2) اذهبی وتزوجي تقع واحدة بلانية (درمختار) ويخالف ما في شرح الجامع الصغير لقاضی خان ولو قال اذهبي فتزوجي وقال لم انو الطلاق لا يقع شیء الخ ويؤيده ما في الذخيرة اذهبي وتزوجي لا يقع الا بالنية (ردالمحتار باب الکنايات ج۲ ص ۲۵۲. ط. س. ج۳ ص ۳۱۴). ظفير

(3) داجمله دکناياتو دباب څخه ده په دي کي که نيت وي دطلاق نوطلاق بائن واقع کيږي او مفتی علام ﷬ داپه کناياتو کي شمار کړی دی؛ ويقع بابرأتك عن الزوجة بلانية (درمختار) قوله بلانية فی حال الغضب وغيره تاتارخانية ومقتضاه انه طلاق صريح وفيه نظر وفی کنايات الجوهرة انا بریٔ من نکاحك يقع ان نوی (ردالمحتار باب الصريح ج ۲ ص ۲۱۴. ط. س. ج ۳ ص ۲۷۳). ظفير

واقع سو او رجوع نسي کولای (۱).

دپرېښودو په لفظ باندي بائن طلاق واقع کيږي: **سوال**: (**۵۵۴**) زيد وويل که زما ښځه هنده نن شپه زما کورته رانغله نو زما دلور برابره ده همدا وو چي عمر خالد او بکر ذکر سوي ښځه په ډير تکليف دکور تر غولي پوري راوستله خو دوهلو له بيري يي هنده بيرته وايستله اوبل کورته يي بوتله وروسته بيا يوه سړي زيد ته وويل چي خپله ښځه ولي نه راولي ددي جواب زيد داورکی چي ما هغه پرې ايښي ده پرې ايښي ده لور مي بللي ده او پرې ايښي مي ده په دي صورت کي طلاق واقع سو او که نه؟ که سوي وي نو بائن که مغلظ؟

جواب: په دي صورت کي که دميړه نيت دطلاق وو او دطلاق په نيت يي دا الفاظ ويلي وه نو يو بائن طلاق واقع سو دويم او دريم واقع نه سو: لان البائن لايلحق البائن (۲) کما فی الدرالمختار وغيره وفی الشامي فی الکنايات قوله سرحتك من السراح بفتح السين وهو الارسال ای ارسلتك لاني طلقك الخ اوفي هذا المنزل. نهر، شامي ج۲ ص (۳) **۴۲۵**.

موړ ته ضرورت نسته داجمله کنايي ده که نيت وو طلاق به وي: **سوال**: (**۵۵۵**) ديوي نابالغي نه کلني انجلی نکاح ددي والدينو وکړه څو ورځي وروسته په فريقينو کي جنجال وسو او انجلی يي دميړه کورته ونه ليږله دميړه موړ اوپلار په عدالت کي دعوه وکړه او عدالت نکاح ناجائزه وګرځوله او دميړه دعوه يي خارجه کړه بيا ددعوي شروع وسوه فيصله داوسوه چي ترڅو انجلی نابالغه وی دخپل موړ او پلارکره به وي بيا انجلی ته اختيار دی چي کله دا انجلی بالغه سوه نو دانجلی موړ اوپلار پيغام وروليږی چي خپل امانت مو بوزی ميړه وويل اوس زموږ ضرورت نسته ورته مابله نکاح کړي ده اوس څه موده وروسته انجلی هم بله نکاح کړي ده نو دانجلی دا نکاح جائزه ده اوکه نه؟ اومخکی نکاح چي موړ اوپلار دنابالغتيا په حالت کي کړي وه فسخ سوه اوکه نه؟

جواب: دميړه دا ويل چي اوس زموږ ضرورت نسته ورته دا دصريح طلاق الفاظ نه دي خوپه کنايي کي داخليدی سي نوکه دميړه نيت په دي سره دطلاقو وو نوطلاق به واقع وي کني نه به وي واقع غرض دا چي مخکی نکاح ددي چي ددي موړ اوپلار کړي ده صحيح ده د دي څخه وروسته چي ترڅو ميړه بالغ سوی نه وي او طلاق يي نه وي ورکړي

(۱) اذا کان الطلاق بائنا دون الثلاث فله ان يتزوجها فی العدة وبعد انقضائها الخ (عالمګيري مصري الباب السادس فی الرجعة ج ۱ص ۴۱۳). ظفير

(۲) الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب الکنايات (ج ۲ ص ۶۴۲. ط. س. ج ۳ ص ۳۰۸). ظفير

(۳) ردالمحتار باب الکنايات ج ۲ ص ۷۳۹. ط. س. ج ۳ ص ۳۰۵. ظفير

نو دویمه نکاح نه سي صحیح کیدای اوکه میړه ذکر سوي الفاظ په نیت دطلاق ویلی وي نو دعدی څخه وروسته دویمه نکاح صحیح ده اوکه یي دطلاق په نیت نه وه ویلي بیا نه ده صحیح دمیړه دنیت پوښتنه باید وکړل سي اوشامي له بدائع څخه نقل کړي دي چي په: لاحاجة لي فيك، کي په نیت سره هم طلاق نه واقع کیږي خو دشامي له وروستني عبارته معلومیږي چي په دي کي اختلاف دی صاحبین فرمایي چي په نیت سره طلاق واقع کیږي ([1]).

هیڅ مطلب نه ورڅخه لرم زما طبیعت له دې څخه خراب دی دا جمله کنایي ده: سوال:

(**۵۵۲**) که یوه بالغ مسلمان دخپلي ښځي په باره کي خپل مشر ورورته دا الفاظ ولیکل چي زما ښځه بدکرداره ده له دي وجهي زما طبیعت دي ته هیڅکله هم نه صفا کیږي او نه زه له دي سره څه مطلب ساتم اونه یي ساتل غواړم چي څوك دهغه په هکله څومره صفایي کوي زما زړه دهغه په اړه نه صفا کیږي دیوی ډوډی پخوونکي په څیر مي پرې اینبي ده په دي صورت کي طلاق واقع سو او که نه؟

جواب: په دي صورت کي دمیړه په دي تحریر دا ښځه طلاقه نه سوه آخري الفاظ ددي ښکاره دلیل دی چي دده دطلاق نیت نسته ځکه چي دالفظ موجود دی (چي دیوی ډوډی پخوونکي په څیر یي پرې اینبي ده) له دي څخه معلومه سوه چي دده دطلاق ورکولو اراده نسته اوبل هم کم صریح لفظ دطلاق په دی تحریر کي نسته.

دري ځله یي وویل چي پرما حرامه یي بیایي نکاح وکړه نو څه حکم دی؟ سوال: (**۵۵۷**)

هنده دزید ښځه دزید له اجازي پرته دخپل یوه قریب کورته ولاړه اوتر څه وخته هلته اوسیده زید ته یوه سړي وویل ته داسي ښځي ته طلاق ورکړه همدا وو چي زید خپلي ښځي ته په دي الفاظو طلاق ورکی (چي زما پر نفس باندي حرامه ده زما پر نفس باندي حرامه ده زما پر نفس باندي حرامه ده) دری ځله ددې څخه وروسته زید او هنده په خپل مینځ کي سره رضا سوه او بیايي نکاح تړل وغوښتل نوزید ته چا وویل چي بي له حلالي نکاح صحیح نه ده ځکه چي کم طلاق تا ورکی هغه مغلظ وو همدا ووچي په هندي یي له یو بل چا سره نکاح وکړه دویم میړه له هندي سره مباشرت وکی خو پروطي قادر نه سو

[1] لست لك بزوج ولست لی بامراة او قالت به لست لی بزوج فقال صدقت طلاق ان نواه خلافا لهما اوسئل الك امرأة فقال لا لاتطلق وان نوي (درمختار) قوله لاتطلق اتفاقا وان نوي ومثله قوله لم اتزوجك او لم يكن بيننا نكاح او لا حاجة لی فيك بدائع لكن فی المحيط ذكر الوقوع فی قوله لاعند سواله قال ولو قال لانكاح بيننا يقع الطلاق والاصل ان نفی النكاح اصلا لا يكون طلاق بل يكون جحودا ونفی النكاح فی الحال يكون طلاقا اذا نوي وماعداه فالصحيح انه هذا الخلاف آه بحر (ردالمحتارباب الصريح ج۲ ص۲۲۳. ط. س. ج ۳ ص۲۸۳). ظ

او دویم میړه طلاق ورکی چي دهغی دری میاشتي تیري سوي اوس زید او هنده بیا نکاح کول غواړي نوشریعت څه حکم ورکوي؟

جواب: په دي صورت کي زید په صریح لفظ سره طلاق نه دی ورکړی بلکه په کنایي الفاظو یي طلاق ورکړی دی اوپه کنایي الفاظو بائن طلاق واقع کیږي او له یوه بائن څخه وروسته دویم بائن نه واقع کیږي کما صرح به فی الدرالمختار وغیره (۱)، له دي وجهي په دی سوي صورت کي دابنځه مطلقه ثلثه مغلظه نه سوه بلکه یو بائن طلاق پردي واقع سوی ځکه نو حلالي ته ضرورت نه وو بي له حلالي داول میړه سره نکاح صحیح وه، او دحلالي لپاره ددویم میړه وطی اگر که شرط دي او ددویم میړه له وطی پرته مطلقه ثلاثه داول میړه لپاره نه حلالیږی خو له دي امله چي په ذکر سوي صورت کي دحلالي ضرورت نه وو نو ددویم میړه له طلاقه وروسته چي کله دری حیضه تیر سي یعني عده پوره سي نو له اول میړه سره نکاح صحیح ده او دعدی طلاق دری حیضه دي چي دچا حیض نه راځي په وجه دبوډاتوب یا بل څه نو دهغه عده دری میاشتي دی.

دښځي په اړوند یی وویل زه دانه ساتم دا زما لائقه نه ده نوڅه حکم دی؟ سوال: (۵۵۸) یوه سړي دخپلي ښځي کجاوه خپل کورته راوړه دوی دری ورځي وروسته معلومه سوه چي هغه حرام حمل لري میړه دا دمور او پلار په کورکي پریښوده او ویي ویل چی زه دانه ساتم دابنځه زما لائقه نه ده دښځي مور اوپلار ښځه له بل سړي سره کښېنوله دوی دری میاشتي وروسته چي کله ددي ماشوم وزیږیدی نو دوهم سړی له دي ښځي سره نکاح کول وغوښتل نو ایا له دي سره نکاح کیدای سي؟

جواب: که میړه دطلاق په نیت دا الفاظ ویلي وي نو دده پر ښځی بائن طلاق واقع سو وروسته دعدی څخه له بل سړي سره ددي نکاح صحیح ده او ددي عدی دحمل وضع ده چي کله بچی پیداسو نوعده یي ختم سوه اوس ددي نکاح صحیح ده نور نو ددي خبري پوښتنه باید له میړه څخه وسي چي ده دا الفاظ په نیت دطلاق ویلي دي او که نه (۲).

ته زما ښځه نه یی دا جمله یی وویله نو څه حکم دی؟ سوال: (۵۵۹) زید دخپلي ښځي سره بي وجهي بدسلوك وکی اودا الفاظ یي ورته وویل ته له نن څخه زما ښځه نه یي زما دمور اوخور په څیر یي په دي طریقه چي میړه طلاق ورکړي شرعا جواز لري او که نه؟ او په داسي حالت کي په طلاقیدو سره ښځه له میړه څخه مهر اخیستلای سي اوکه نه؟ او

(۱) لان البائن لا یلحق البائن (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب الکنایات ج ۲ ص ۷۴۵. ط. س. ج ۳ ص ۳۰۸).

(۲) فالکنایات لا تطلق بها قضاء الا بنیة او دلالة الحال (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب الکنایات ج۲ ص۷۳۵ . ط. س. ج۳ ص۲۹۷). ظفیر

دا طلاق دکم ډول څخه دی؟

جواب: په دي الفاظو چي کم طلاق واقع کيږي په هغه سره دابائنه کيږي او په دي الفاظو کي که دميړه دطلاق نيت وي نو طلاق واقع کيږي کني نه او دښځي مهر له طلاقه وروسته دميړه پر ذمه واجب الاداء دی له طلاقه څخه وروسته ښځه خپل مهر اخيستلای سي هکذا فی کتب الفقه [۱].

دپرېښودو دلفظ دويلو څخه وروسته رجوع جائزده اوکه نه؟ سوال: (۵۷۰) يوه سړي دوه ځله دا الفاظ وويل چي فلانی ښځه ما پرېښوده خو له دينه وروسته يي رجوع وکړه آيا وروسته له دوو طلاقو څخه رجوع کولای سي او نکاح پاته کيږي اوکه څه حکم دی؟

جواب: دپرېښودلو لفظ له کناياتو څخه دي چي کله ميړه دا الفاظ دطلاق په نيت وويلی نو دده پر ښځي يو بائن طلاق واقع سو او له بائن څخه وروسته دويم بائن نه واقع کيږي. کما صرحوا ان البائن لايلحق البائن [۲] درمختار وغيره، او په طلاق بائن کي رجوع بي له نکاح صحيح نه ده نو له بائن طلاق څخه وروسته دميړه رجوع کول دنکاح دپاته کيدو لپاره ګټوره نه ده او دا رجوع کالعدم ده بي له نوي نکاح دابښځه دده په نکاح کي نه سي دا خليدی [۳] (او له دي امله دي نوي نکاح وکړي. ظفير).

زما له کوره ووزه په دي ويلوکي که يي نيت دطلاق وو نوطلاق واقع سو: سوال: (۵۷۱) زيد خپلي ښځي ته ددرد په حالت کي څوځله داوويل چي ته زما له کوره ووزه ته زما په کارنه يي او هغه يي له خپل کور څخه وايستله او ويي وهله له دوو کلو زيات وخت وسو چي زيد ديته رجوع نه ده کړي اونه يي ددي خبر اخيستی دی نوآيا دزيد ښځه په دی ذکرسوي صورت کي بائنه سوه اوکه نه؟

جواب: په درمختار کي ويلي دي: فنحو اخرجی واذهبي وقومي الخ يحتمل ردا (الی ان قال) وفی الغضب توقف الاولان الخ ای ما يصلح ردا اوجوابا. الخ شامي [۴] نو په پوښتل سوي صورت کي که ميړه دطلاق په نيت ذکر سوي الفاظ ويلي وي نو دده پر ښځي يو بائن طلاق واقع سو اوبيله نکاح په دي کي رجوع صحيح نه ده او له عدی څخه

[۱] وان نوی انت علی مثل امي او کامي وکذا لو حذف علی، خانيه، برا او ظهارا او طلاقا صحت نيته ووقع مانواه لانه کناية (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب الظهار ج۲ ص۷۹۴. ط. س. ج۳ ص۴۷۰) لست لی بامراة الخ طلاق ان نواه (ايضا باب الصريح ج۲ ص۶۳۳. ط. س. ج ۳ ص ۲۸۲). ظفير

[۲] الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب الکنايات ج ۲ ص ۶۳۲. ط. س. ج ۳ ص ۳۵۸. ظفير

[۳] واذا کان الطلاق بائنا دون الثلاث فله ان يتزوجها فی العدة وبعد انقضائها (عالمگيري مصري الباب السادس فی الرجعة ج۲ ص۴۳۱). ظفير

[۴] الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب الکنايات ج۲ ص۶۳۷. ط. س. ج۳ ص ۲۹۸. ظفير

وروسته دابنځه بله نکاح کولای سی.

<u>ستاسره مي هيڅ تعلق نسته په دی ويلو سره که دطلاق نيت ووطلاق واقع کيږي</u>: **سوال**: (**۵۷۲**) زيد خپلي ښځي ته ددرد او دخفګان په حالت کي دا الفاظ په خط کي وليکل چي زما ستا سره هيڅ تعلق نسته ټول عمر به دي شکل ونه ګورم نو په دی الفاظو سره طلاق واقع سو او که نه؟

جواب: که په دي الفاظو سره چي زما ستا سره هيڅ تعلق نسته دميړه دطلاق نيت وي نو يوبائن طلاق دده پر ښځی واقع سو دنيت حال له ميړه څخه معلوميدلای سي [1] او دويمه فقره (چي تمام عمر به دي شکل ونه وينم) لغو دی په هغه باندي هيڅ هم ونه سوه.

<u>دحرام په لفظ سره طلاق واقع سو اوکه نه؟</u> **سوال**: (**۵۷۳**) يوه سړي خپلي ښځي ته وويل چي ته پرما حرامه يي نو په دي صورت کي دده ښځه طلاقه سوه اوکه نه؟ دابل ځای نکاح کولای سي اوکه نه؟

جواب: که ميړه دالفظ چي ته پرما حرامه يي په نيت دطلاق ويلي وي نوطلاق بائن دده پر ښځی واقع سو [2] دعدی له تيريدو څخه وروسته دادويمه نکاح کولای سي نو له ميړه څخه دي پوښتنه وسي چي دالفظ ده په نيت دطلاق ويلي وو اوکه نه هسي په طريقه دښکنځلو يا بل څه يي ويلي وو که دده نيت دطلاق نه وو نو ترڅو چي ده طلاق نه وي ورکړي دذکر سوي ښځي دويمه نکاح به جائزه نه وي.

<u>په لاندېني صورت کي څوطلاقه واقع سوه؟</u> **سوال**: (**۵۷۴**) هندي بيان وکی چي زما ميړه زيد زه له يونيم يادوو کلو راهيسي پرې ايښي يم چي کله په دي اړه له زيد څخه پوښتنه وسوه نو هغه اقرار وکړی چي ما دايعني هنده يونيم دوه کاله مخکي پرې ايښي ده زما له دي سره هيڅ تعلق نه ساتل طلاق وګڼی او له دي وروسته يي دچاپه اصرار سره طلاقنامه وليکله اوخپل قرض يي وروبخښی سوال دادی چي په اول اقرار سره چي ما له يو نيم دوو کلو راهيسي پرې ايښي ده صريح طلاق رجعي واقع سو اوکه نه؟ اوچي کله يي داوويل چي زما له دي سره هيڅ تعلق نسته نو په دی سره يو بائن طلاق واقع سو

---

[1] لو قال لانكاح بيني وبينك الخ يقع الطلاق اذا نوى لم يبق بينى وبينك عمل ونوي يقع (عالمگيرى كشورى الفصل الخامس فى الكنايات ج۲ ص۳۹۴). ظفير

[2] قال لامرأته انت عليّ حرام ايلاء ان نوي التحريم او لم ينو شيئا وظهار ان نواه وهدر ان نوي الكذب الخ وتطليقة بائنة ان نوي الطلاق وثلاث ان نواها ويفتى بانه طلاق بائن ان لم ينوه لغلبة العرف (درمختار) هذا فى القضاء واما فى الديانة فلا يقع ما لم ينو عدم نية الطلاق صادق بعدم نية شيء اصلا الخ قلت الظاهر انه اذا لم ينو شيئا اصلا يقع ديانة ايضا الخ (ردالمحتار باب الايلاء مطلب فى قوله انت حرام ج۲ ص۷۲۰ - ۷۲۱ - ۷۲۲. ط س. ج۳ ص۴۴۲). ظفير

اوکه نه؟ او دچا دپوښتني په جواب کي په دي ویلو سره چي شرعي طلاق مي نه دی ورکړی دطلاق اقرار باطلیږي او که نه؟ او طلاقنامه لیکل اول حکم ختمولای سي اوکه نه؟ اوپه صورت دوقوع دبائن طلاق کي عده تیره سوه او که نه؟ او دویمه نکاح دهندي له بل سره کول صحیح کیږي اوکه نه؟

جواب: دزید داویل چي ماهنده دیو نیم دوو کلو راهیسي پرې ایښي ده کنایي وه چي نیت ته محتاج ده که یي دطلاق په نیت سره ویلي وي نو بائن طلاق په دي سره واقع سو کني ([1]) نه لیکن وروسته په دي ویلو سره چي طلاق یي وګنی په هغو الفاظو یوطلاق واقع سو نو که یي په طلاق وګنی، لفظ سره هم نیت دطلاق وو نو اوس دوه سوه اودواړه بائن اوکه یي په اول لفظ سره دطلاق نیت نه وو نو اوس په دي صریح لفظ سره یو رجعي طلاق واقع سو وروسته طلاق نامه لیکل اومهر معافول دا به بل طلاق وي اوکه په طلاق نامه کي یي دری طلاقه لیکلي وي نوټول به دری سي نوپه دریو طلاقو هنده طلاقه سوه او عده به له اول طلاق څخه پوره کیږي یعني له کم وخت څخه چي یي اول طلاق ورکړی دی له هغه وخت څخه به عده شروع کیږي او دطلاق نامي لیکلو ته به اعتبار نه وي او له عدت څخه وروسته دویمه نکاح به صحیح وي او له طلاق څخه وروسته داویل چي شرعي طلاق مي نه دی ورکړی دطلاق مخکی اقرار نه باطلوي بلکي هغه به ثابت او صحیح وي اوله هغه وخت څخه به شمار وي، که دری حیضه تیر سوي وي نو عده تیره سوه اودویمه نکاح کول صحیح دی ([2]).

<u>دپرې ایښي مي یی په لفظ سره په شرط دنیت طلاق واقع کیږي</u>: **سوال**: (**۵۷۵**) دیوسړي ښځه وتښتیدله نو دي سړي دا الفاظ وویل ما خپله ښځه پریښوولـه اوس دده ښځه بیرته راغله نوڅه حکم دی؟

جواب: که یي دطلاق په نیت دالفظ ویلي وي چي ما خپله ښځه پریښوده، نو یو بائن طلاق دده پرښځی واقع سو اوس ددوهم وارنکاح پرته هغه خپله ښځه نسی ګرځولای ([3]).

([1]) ثم فرق بینه وبین سرحتك فان سرحتك كناية (رد المحتار باب الكنايات ج۲ ص۷۳۸. ط. س. ج۳ ص۲۹۹) فالكنايات لا تطلق بها قضاء الا بنية او دلالة الحال (درمختار) قوله قضاء قيد به لانه لايقع ديانة بدون النية (ردالمحتار باب ايضا ج ۳ ص۷۳۲. ط. س. ج۳ ص۲۹۷). ظفير

([2]) فيها ثلاث حيض من وقت الطلاق شمني (الدرالمختار على هامش ردالمحتار باب العدة ج ۲ ص ۷۳۳. ط. س. ج ۳ ص ۵۱۳). ظفير

([3]) وفى الكنايات: ونحو اعتدى الخ وسرحتك فارقتك لايحتمل السب والرد ففى حالة الرضاء الخ توقف الاقسام الثلثة تاثيرا على نية للاحتمال (الدر المختار على هامش ردالمحتار باب الكنايات ج۲ ص۷۳۹ - ۷۴۰ ط. س. ج۳ ص۳۰۰). ظفير

په لاندي ذکرسوي صورت کی چي نیت دطلاق وي نو طلاق واقع کيږي: سوال: (۵۲۶) دلوهار دقوم دیوی مسلماني ښځي واده له یوه لوهاري مسلمان سړي محمد بخش سره له دولسو کلو راهیسي سوي وو او دومره موده دا دده په زوجیت کي وه او ددي میړه له نطفي څخه یي اولاد هم پیدا سوی وو، بیا هغه ظالم میړه الله خبر په څه وجه پر هغي الزام ولګوی اوجلا یي کړه او ویي ویل چي دا زما دکارنه ده که بل قوم او بل میړه ته ولاړه سي هم زه یي نه ساتم دایي وویل اویو نیم کال یي ورسره دزوجیت تعلق ونه ساتی او له کوره یي وایستله تعلقات یي ټول ورسره ختم کړل نه یي ساتي اونه جامه ډوډی ورکوي بلکي یو هندي تحریر یي ولیکی او ډیر کورنیان یي پر شاهدان کړل چي که دادبلي کورني څوك وکړي نو زما پر هغه باندي هیڅ انکار او دعوه نسته نو په داسي صورت کي دا ښځه دویم وار په نکاح کولای سي او که نه؟

جواب: په پوښتنه کي چي کم الفاظ دمیړه لیکل سوي دي هغه کنایی دي که په هغو سره دمیړه دطلاق نیت وي نو بائن طلاق دده په ښځي واقع سو او دعدی له تیریدو وروسته دا ښځه دویمه نکاح کولای سي اوکه خاوند ذکر سوي الفاظ دطلاق په نیت نه وي ویلی نو طلاق واقع نه سو (١) اودمیړه دنیت حال دمیړه څخه معلومیدای سي اوپه هندي تحریر باندي موږ نه پوهیږو چي په هغه کي کم الفاظ لیکلي دي.

دنه تعلق په جمله ویلو سره دنیت په وخت کی طلاق واقع کیږي: سوال: (۵۲۷) زید او دده ښځه په میاشت کي یو ځل دوه جنګه کوي او زید دښځي په هکله یو دوه ځلي څه الفاظ ویلي دي اوس چي کله زید له ښځي سره څه جنجال وکي نو دا الفاظ ورته وایي چي که له نن وروسته ما له تا سره جنګ جګړه وکړه نو بیا به ستا له ماسره هیڅ تعلق نه وي ښځي وویل چي دا لفظ له ژبي څخه مه باسه جګړي به تل همداسي رواني وي زید وویل که اوس جنګ وکړم نو بیابه زما اوستا هیڅ تعلق نه وي غرض داچي زید دوه ځله دا الفاظ وویل او جنګ هم دغسي جاري وی ښځه ډیره نیکه ده دا وایي چي همیشه ددوی جګړه وي اوده دطلاق لفظ هم ویلی دی اوس دا ښځه په نکاح کي پاته ده اوکه نه؟

جواب: دا لفظ چي له نن څخه که ما ستا سره جګړه وکړه نو ته له ما څخه بي تعلقه یي یا زما اوستا هیڅ تعلق نسته کنایي دی په دي کي دنیت اعتبار دی که دمیړه نیت دطلاق وو نو بائن طلاق دشرط له تحققه وروسته واقع سو یعني په جګړه کولو سره اوکه یي دالفظ دطلاق په نیت نه وي ویلی نوطلاق واقع نه سو او دنیت حال له خاوند څخه

(١) لو قال لها اذهبي ای طریق شئت لایقع بدون النیة وان کان فی حال مذاکرة الطلاق او قبیله وفی الفتاوٰی لم یبق بینی وبینك عمل ونوي (عالمگیري مصري باب الکنایات ج١ ص ۲۵۳). ظفیر

معلومیدای سی (۱) اوکه یی کله صریح لفظ ویلی وی نوبي له نیته هم په تحقق دشرط سره طلاق واقع کیږي (۲).

ښځي ته يې وويل چې دوهم ميړه وکړه نو ددي څه حکم دی؟ **سوال**: (۵۲۸) دښځي او ميړه جنګ وو ميړه ښځي ته وويل چي ځنګه ما دوهمه نکاح وکړه ته يي هم وکړه نو په داسي ويلوسره نکاح ماته سوه اوکه نه؟ که ماته سوي وي نو ايا ددي نکاح بل ځای وکړل سي؟

جواب: دا لفظ دميړه چي ته هم بله نکاح وکړی کنايي طلاق دی صريح طلاق نه دی که يي په دي لفظ سره دطلاق نيت وي نوطلاق واقع کيږي کني نه، نوله ميړه څخه دي پوښتنه وسي چي دده نيت په دي لفظ ويلوسره څه وو که دطلاق وو نو بائن طلاق واقع سو (۳) اوله عدی څخه وروسته (چي دری حیضه دي چي دکمي ښځي حیض راځي اوچي دکمي حيض نه راځي دهغې دری مياشتي دي) داښځه دبل سړي سره نکاح کولای سي.

څه ليري ولاړه سه څه، کنايي دي په نيت سره طلاق وربانديي واقع کيږي: **سوال**: (۵۲۹) ديوه سړي دوی ښځي دي يوه ښه ساتي اوبلي ته تريوي يوي هفتي پوري دخوراك څه نه ورکوي او دا الفاظ يي وويل چي څه ليري سه ولاړه سه او دخپل پلار کره اوسيږه زما اوستا څه کار نسته اوس داسړي دری کال بندي سوی دی نو په دي حالت کي دده په ښځی طلاق واقع سو اوکه نه؟ ښځي لره دويمه نکاح کول جائز دي اوکه نه ؟

جواب: داسي سړی چي په دواړو ښځو کي عدل اوبرابري نه کوي فاسق اومستحق دعذاب دی (۴) اوچي کم الفاظ ده خپلي يوي ښځي ته ويلي دي په هغو سره که يي دطلاق نيت وو نو طلاق واقع کيږي کني نه ځکه چي دا الفاظ کنايي دي دصريح طلاق نه دي اوپه کنايي کي نيت ته ضرورت وي او دويمه نکاح هلته جائز کيږي چي داول ميړه

---

(۱) لو قال لها الخ لم يبقى بينى وبينك نكاح يقع الطلاق اذا نوى الخ ولو قال لها الخ لم يبقى بينى وبينك عمل ونوى يقع (عالمگيري كشوري باب الكنايات ج۲ ص۳۹۴. ط. ماجديه ج ۱ ص ۳۷۵). ظفير

(۲) فاذا اضافه الى الشرط وقع عقيب الشرط اتفاقا مثل ان يقول لامراته ان دخلت الدار فانت طالق (عالمگيري كشوری باب التعليق فصل ثالث ج۲ ص۴۴۰، عالمگيری باب الكنايات ج ۲ ص ۳۹۵. ط ماجديه ج ۱ ص ۴۲۰). ظفير

(۳) ولو قال كزوجي ونوى الطلاق او الثلث صح وان لم ينو شيئا لم يقع كذا فى العتابية (عالمگيري كشوري باب الكنايات ج۲ ص۳۹۵. ط. ماجديه ج۱ ص۴۲۰). ظفير

(۴) يجب (القسم) وظاهر الأية انه فرض ان يعدل اى ان لا يجور فيه اى فى القسم بالتسوية فى البيوتة وفى الملبوس والماكول والصحبة (درمختار) قوله وظاهر الآية انه فرض فان قوله تعالى (فان خفتم الا تعدلوا فواحدة) امر بالاقتصار على الواحدة عند خوف الجور الخ (رد المحتار باب القسم ج ۲ ص ۵۴۲. ط. س. ج ۳ ص ۲۰۱). ظفير

(۱) له خوا طلاق ورکول سي او بندي خاني ته په تلو سره هم طلاق نه واقع کیږي.

هیڅ واسطه اوتعلق نسته داجمله ویل کنایي ده په نیت سره طلاق ورباندي واقع کیږي:

سوال: (۵۷۰) دمحموده نومي څوارلس کلني انجلی نکاح ددي میری مور دخالد سره دمحمودي دپلار عمر له خوښي پرته وکړه څه موده وروسته خالد محمودي ته ګیني او جامي وروغورځولي او ویي ویل چي اوس دټول عمر لپاره څه زموږ سره دي هیڅ واسطه اوتعلق نسته دی دایي دپلار کورته راوستله اوس محموده دویمه نکاح کولای سي اوکه نه؟

جواب: دپلار له رضا پرته دمحمودي نکاح صحیح نه سوه ځکه چي که علامه دبلوغ مثلا حیض یا حمل نه وي نو پوره دپنځلس کلو په عمر کي سړی اوښځه بالغ کیږي دڅوارلسو کلو په عمر کي محموده شرعا بالغه نه ده او دنابالغي نکاح بغیر له ولي څخه نه کیږي اومیری مور یا ددي ورور ولي نه دی نو له دي وجهي دانکاح چي کمه میری مور کړي ده دپلار تر اجازي موقوفه ده نو که پلار وروسته له اطلاع څخه دا جائزه نه وي ساتلی نو دانکاح باطله سوه اوکه یي جائزه ساتلي وي نو صحیح سوه (۲) نو دنکاح دصحت په صورت کي که خالد ذکر سوي الفاظ په نیت دطلاق ویلي وي نو پر محمودي بائن طلاق واقع سو او وروسته له عدی څخه بله نکاح کولای سي (۳) او دنکاح دنه صحت په صورت کي سمدستي دویمه نکاح کولای سي.

دا جمله (ته مي ښځه نه یی) دایي ورته وویله نو څه حکم دي؟ **سوال**: (۵۷۱) یوه سړي په درد کي خپلي ښځي ته وویل چي ته اوس زما ښځه نه یي او نه به بیا زه تاخپله ښځه وګڼم نو په دي صورت کي څه حکم دی؟

جواب: که میړه دا الفاظ چي ته مي ښځه نه یی په نیت دطلاق ویلي وي نو یو بائن طلاق یي پر ښځی واقع سو اوکه یی دطلاق نیت نه وو نو بیا طلاق نه واقع کیږي (۴).

---

(۱) لوقال لها اذهبي ای طریق شئت لایقع بدون النیة وان کان فی حالة مذاکرة الطلاق (او ددي نه لږ وروسته دي) وفی الفتاوٰی (لوقال لها) لم یبق بیني وبینك عمل اونوي یقع (عالمګیري مصري باب الکنایات ج ۱ ص ۲۵۳).

(۲) فلو زوج الابعد حال قیام الاقرب توقف علی اجازته (درمختار) فیکون سکوته اجازة لنکاح الابعد وان کان حاضرا فی مجلس العقد مالم یرض صریحا او دلالة (ردالمحتار باب الولی ج۲ ص۴۳۲ ط. س. ج ۳ ص ۸۱). ظفیر الدین

(۳) واخرجي واذهبي وقومي وابتغي الازواج لانها تحتمل الطلاق وغیره فلابد من النیة (هدایه کتاب الطلاق ج ۲ ص ۳۵۲). ظفیر

(۴) لست لك بزوج او لست لك بامراءة الخ طلاق ان نواه (درمختار) قیل بالنیة لانه لایقع بدونها اتفاقا لکونه من الکنایات (ردالمحتار قبیل باب طلاق غیر المدخول بها ج۲ ص۲۲۳. ط. س. ج ۳ ص ۲۸۳). ظفیر

(چي کم ځاى ستا خوښه وي هلته ولاړه سه) داجمله کنايي ده دنيت سره به طلاق وي: سوال: (۵۷۲) يوه سړى خپله ښځه ووهله اوويي ويل چي کم ځاى دي خوښه وي هلته ولاړه سه زما تاته هيڅ ضرورت نسته نو دا ښځه طلاقه سوه او که نه؟

جواب: دا لفظ کنايي دى دصريح طلاق لفظ نه دى په دي کي که نيت دطلاق وي نو بائن طلاق به واقع وي کني نه به وي او دنيت حال دي له ميړه څخه معلوم سي (۱).

په لاندي ذکرسوي صورت کي خوطلاق واقع نه سو: سوال: (۵۷۳) که يوه سړى په درد کي خپلي ښځي ته وويل چي ته پرما درى چرايي درى چرايي درى چرايي يي له دينه وروسته يي وويل ته په ما درى طلا او اخري حرف يعني قاف يي حذف کى اوته پرما زما دمور په شان يي که ستاسره پربوتم داټول الفاظ يي ددرد په حالت کي وويل نوڅه حکم دى؟

جواب: لفظ ددرى چرايي چي په سوال کي درى ځله ذکر دي معنى يي معلومه نه ده چي په کشمير کي په کمه معنى استعماليږي اوپه دي لفظ چي ته پرما درى طلا يي بې له قافه طلاق نه واقع کيږي ځکه چي دانه صريح طلاق دى اونه کنايي اونه دالفظ مصحف دى چي طاء يا قاف په بل حرف لکه تاء يا کاف بدل سوى وي له دي وجهي لغوه دى. قال في الدرالمختار ورکنه لفظ مخصوص هو ما جعله دلالة على معنى الطلاق من صريح او کناية شامي (۲) اودا قول دميړه چي ته پرما زما دمور په څير يي له دينه چي ده دهر څه نيت کړى وي دعزت اوکه دظهار اوکه دطلاق نو هغه به معتبر وي اوکه يي هيڅ نيت هم نه وي کړى نو لغوه دى په مشري او عزت کي تشبيه به ورڅخه مراده وي: کما قال في الدر المختار وان نوى بانت على مثل امي الخ برا اوظهارا او طلاقا صحت نيته ووقع مانواه لانه کناية والا ينوى شيئا اوحذف الکاف لغا وتعين الادنى اى البر يعني الکرامة (۳).

مهر راکړه او تحريري طلاق واخله په دي ويلو سره طلاق واقع نه سو: سوال: (۵۷۴) دزيد دخور عقد له بکر سره پنځه شپږ مياشتي وړاندي سوي وو اوس زيد بکرته دواده وويل نو بکر جواب ورکى چي ماته خونکاح نه له اول څخه خوښه وه او نه اوس راته تعلق ساتل منظور دى له دي وجهي ماته دمهر رسيد راکړه او تحريري طلاق واخله نو په دي صورت کي قطع دتعلق وسوه اوکه نه؟

---

(۱) فالکنايات لا تطلق بها قضاء الا بنية او دلالة الحال الخ فنحو اخرجي واذهبي وقومي الخ (الدرالمختار على هامش ردالمحتار باب الکنايات ج۲ ص ۷۳۵. ط. س. ج۳ ص ۲۹۷). ظفير

(۲) ردالمحتار کتاب الطلاق ج۲ ص ۵۷۴. ط. س. ج ۳ ص ۲۳۰. ظفير

(۳) الدر المختار على هامش ردالمحتار باب الظهار ج ۲ ص ۷۹۴. ط. س. ج ۳ ص ۴۷. ظفير

جواب: دا الفاظ چي ماته دمهر رسيد راکړه اوتحريري طلاق واخله په طريقه دوعدي او په طريقه دتعليق دي چي که ته رسيد راکړي نو زه به طلاق نامه وليکم نو په دي سره في الحال طلاق واقع نه سو (۱) او دا لفظ (او نه اوس تعلق ساتل منظور دی) کنايي ده. په دي کي که نيت دطلاق وي نو طلاق واقع کيږي.

په لاندیني صورت کی طلاق نه واقع کیږي: **سوال**: (**۵۷۵**) دزيد نکاح له فاطمه نومي انجلی سره په نابالغتوب کي وسوه پنځه کاله وروسته چي انجلی ددولس نيمو کلو سوه دميړه له لوري يوکارډ چي دهغه مضمون دا وو چي دفاطمي نکاح چي يوائي دنامه لپاره زماسره سوي وه مادا ازاده کړه او په کارډ ځوك شاهد نسته ډاکخاني د۱۹۱۲ کال په جون مياشت کي واچوی اوزيد د۱۹۱۲ په جولای کي دانجلی دبيولو په اراده په ميعاد دعدی کي دننه راغی نو په دغه وخت کي ده ته داخط وښودل سو نو ده انکار وکی نو شرعا داقسم تحرير معتبر دی او که نه؟ او په ذکر سوي تحرير طلاق واقع کيږي او که نه؟

جواب: په دي صورت کي شرعا طلاق واقع نه سو ځکه چي اول خو په دي کارډ کي دطلاق صريح لفظ نسته دازادولو لفظ يي ليکلی دی چي په هغه کي دطلاق نيت ضروري دی اوچي کله ميړه له کارډ څخه انکار کوي نو دطلاق دنيت به کله اقرار وکړي او دويم داچي دميړه دانکار په صورت کي دذکرسوي تحرير اعتبار پاته نه سو ځکه نه دوه عادل شاهدان دتحرير سته اونه اقرار نو داتحرير شرعا لغوه اوباطل ګڼل کيږي (۲).

ښځی ته يی وويل چی کمی خواته دی خوښه وی ولاړه سه نوڅه حکم دی؟ سوال: (**۵۷۶**) يوه سړي خپلي ښځي ته وويل چي کمه خوادي خوښه وي ولاړه سه يا دچاسره حرام کوه زما ستاسره هيڅ کارنسته ښځه په دويمه نکاح رضا ده اوړومبی ميړه دانه قبلوي او ميړه داهم ويلي دی چي نه تاته طلاق درکوم اونه دي په کور کي ساتم؟

جواب: دويمه نکاح دميړه له طلاق ورکولو او دعدی له تيريدو پرته صحيح نه ده او ولاړه سه يا داسي نور الفاظ دکناياتو دي چي په دي کي له نيته پرته طلاق نه واقع کيږي او دنيت نفي دميړه له کلام څخه ځرګنده ده.

خسرته يی وويل زما له لوري اجاز ده چی کم ځای غواړي دخپلي لور نکـاح وکړه نو په دي

---

(۱) بخلاف قوله طلقي نفسك فقالت انا طالق اوانا اطلق نفسي يقع لانه وعد (الدرالمختارعلی هامش ردالمحتار باب تفويض الطلاق ج۲ ۷۵۹ ط. س. ج۳ ص ۳۱۹). ظفير

(۲) وان لم يقر انه کتابه ولم تقم بينة لکنه وصف الامر علی وجه لاتطلق قضاء ولا ديانة (ردالمحتار کتاب الطلاق مطلب فی الطلاق بالکتابة ج۲ ص۵۸۹. ط. س. ج ۳ ص ۲۴۷). ظفير

صورت کی څه حکم دی؟ سوال: (**۵۷۷**) زید دخپلي ښځي پلار ته دا الفاظ وويل زما له طرف څخه اجازه ده خپله لور چي دي کم ځای خوښه وي نکاح يي وکړه آيا شرعا دزيد نکاح ماته سوه او که نه؟

جواب: که زيد داجمله دطلاق په نيت ويلي وي نو دده پرښځی يو بائن طلاق واقع سو: ولوقال اذهبی فتزوجي وقال لم انو الطلاق لايقع شيء لان معناه ان امكن (الی ان قال) ويؤيده ما فی الذخيرة اذهبي وتزوجي لايقع الا بالنية وان نوي فهي واحدة بائنة شامي ([1]) جلد ثاني اخر کنايات.

ښځی ته يی وويل له تابه پيدا يم که مي ته خپل کور ته راوستلی نوڅه حکم دی؟ سوال: (**۵۷۸**) زيد خپلي ښځي ته ددرد او وهلو ټکولو په حالت کي داسي وويل چي ستا څخه به پيدا يم که مي ته کور ته راوستلي نو په ذکر سوي صورت کي طلاق يا ايلاء وسوه اوکه نه؟ او ددي به څه کفاره وي او که نه؟

جواب: په دي کي هيڅ ونه سوه نه طلاق اونه ايلاء اوکفاره په دي کي هيڅ نسته: كذا فی الدر المختار باب الظهار ([2]).

چي کم ځای دي خوښه وي ولاړه سه په دې جمله ويلوسره طلاق واقع سو اوکه نه؟ سوال: (**۵۷۹**) زيد خپله ښځه هنده ووهله ګيني يي ورڅخه وغورځولي او ورته ويي ويل چي ته دخپلي مورکره ولاړه سه يا چي کم ځای دي خوښه وي ولاړه سه زما نه يي په کار هنده له دينه وروسته دپلار کورته ولاړه نو په دی صورت کي هنده طلاقه سوه اوکه نه ؟

جواب: ذکر سوي الفاظ چي دمور کره ولاړه سه چيري چي دي خوښه وی ولاړه سه کنايي طلاق دي په هغو کي که دميړه نيت دطلاق وي نو بائن طلاق واقع کيږی کني نه نو له ميړه څخه دي پوښتنه وسي چي ده په کم نيت سره دا الفاظ ويلي دی كذا يفهم من الدر المختار ([3]).

زما هيڅ تعلق نسته چی کم ځای دی خوښه وي ولاړه سه په دی ويلو سره طلاق واقع سو اوکه نه؟ سوال: (**۵۸۰**) دفقير محمد ښځه بدکرداره سوه او دده له کوره ووتله اوچي کله دي له خپل ميړه څخه طلاق وغوښتی نو ددي ميړه دا الفاظ وويل زما ددي ښځي سره

([1]) ردالمحتار باب الكنايات ج۲ ص ۷۵۲. ط. س. ج ۳ ص ۳۱۴. ظفير

([2]) وان لاينو شيئا او حذف الكاف لغا (درمختار) لانه مجمل فی حق التشبيه فقط فما لم يتبين مراد مخصوص لايحكم بشیء فتح (ردالمحتار باب الظهار ج ۲ ص۷۹۴. ط. س. ج ۳ ص ۴۷۰). ظفير

([3]) فالكنايات لا تطلق بها قضاء الا بنية او دلالة الحال وهی مذاكرة الطلاق او الغضب كنحو اخرجي واذهبي وقومي الخ (الدر المختار علی هامش ردالمحتار ج۲ ص ۷۳۵. ط. س. ج ۳ ص ۲۹۲). ظفير

هيڅ تعلق نسته چي کمه خوا يي خوښه وي ولاړه دي سي نو په دي صورت کي طلاق واقع سو او که نه؟

جواب: په درمختار کي دي چي دخلية برية بتة او بتلة په الفاظو سره چي دټولو معنى انقطاع ده دطلاق دمذاکري په حالت کي طلاق واقع کيږي: وفی مذاکرة الطلاق يتوقف الاول فقط درمختار (۱) ای لايتوقف الاخيران وفی الشامي فتفسير المذاکرة بسوال الطلاق الخ (۲) نو په دي صورت کي دميړه دالفظ چي زما ددي ښځي سره هيڅ تعلق نسته دښځي دطلاق غوښتلو په جواب کي مفيد دطلاق دی له دي وجهي بائن طلاق په دي واقع سو.

<u>په لاندیني جمله کی بی له نیته طلاق نه دی واقع سوی</u>: **سوال**: (**۵۸۱**) دنابالغ زيد او نابالغي هندي نکاح ددوی مور او پلار وتړله چي کله دواړه بالغ سوه نو زيد له يوی بلي ښځي سره هم نکاح وکړه ځکه نو ده ته هندي وويل ستا نکاح زما سره سوي ده ته بله نکاح ولي کوي زيد ددي په جواب کي وويل زما نکاح ستاسره نه ده سوي له بلي ښځي څخه دده اولاد هم سوی دی دهندي پلار زيد او دده پلارته وويل چي کله تاسو زما لورته خوراك چيښاك نه ورکوي زه به دخپلي لورنکاح په بل ځای کي وکړم ميړه او دده پلار په اتفاق سره وويل چي تاته اختيار دی نو په دي صورت کي دهندي نکاح بل ځای صحيح ده او که نه؟

جواب: دزيد داويل چي زما نکاح ستاسره نه ده سوي دروغ دي په دي سره طلاق واقع نه سو په شامي کي دي: والاصل ان نفی النکاح اصلا لايکون طلاقا بل يکون جحوداً الخ (۳) او همداسي دهندي دپلار په جواب کي دده او دده دپلار داويل چي تاته اختيار دي صريح الفاظ دطلاق نه دي چي بي نيته به په دي سره طلاق واقع سي نو بي له طلاق ورکولو دزيد هندي لره دويمه نکاح صحيح نه ده او الفاظ دتفويض چي اختيار او نور دي په هغو کي هم دميړه نيت ضروري دی (۴) او داهم ضروري ده چي ښځه په هم دغه مجلس کي ځانته طلاق ورکړي نو له دی وجهي دا صورت هم دلته متصور نه دی.

---

(۱) الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب الکنايات ج۲ ص ۷۴۵. ط. س. ج ۳ ص ۳۵۱. ظفير

(۲) ردالمحتار باب الکنايات ص ۷۳۷ تحت قوله و مذاکرة الطلاق. ط. س. ج ۳ ص ۲۹۷. ظفير

(۳) ردالمحتار باب الصريح ج۲ ص ۷۲۳. ط. س. ج ۳ ص ۲۸۳. ظفير

(۴) فالکنايات لا تطلق بها قضاء الا بنية او دلالة الحال الخ فنحو الخ اخرجي واذهبی الخ يحتمل ردا الخ ونحو اعتدي الخ واختار الخ لايحتمل السب والرد ففي حالة الرضاء الخ يتوقف الاقسام الثلاثة تاثيرا علی نية للاحتمال (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب الکنايات ج۲ ص ۷۵۳. ط. س. ج ۳ ص۲۹۲ – ۲۹۸). ظفير

زمونږ دکور ځخه ولاړه سه نور مو هيڅ تعلق نسته په دي ويلو کی نيت ته ضرورت دی: **سوال**: (۵۸۲) زيد له خپلي ښځي سره جګړه وکړه اوداسي يي ورته وويل چي زما او ستا هيڅ تعلق نسته زمونږ له کوره ولاړه سه اوله هغه ځخه يي ګيني اوجامي واخيستلي له کورڅخه يي وايستله او هيڅ خبريي نه اخلي ښځي خپل ګذران کوی چي وروسته يي له عمر سره نکاح وکړه اوس اول ميړه مړسو ددوهمي نکاح دنه صحت په صورت کي له عمر سره دتجديد دنکاح دپاره دعدی تيرولو ضرورت سته اوکه نه؟

جواب: دا لفظ چي زمونږ اوستا هيڅ تعلق نسته الخ کنايي دی بي له نيت يا دلالة الحال ځخه په دي سره طلاق نه واقع کيږي (۱) اوس چي اول ميړه مړسوی دي له دي وجهي دده دنيت حال نه سي معلوميدای ځکه نو له عمر سره چي کمه نکاح سوي وه هغه صحيح نه وه دوفات عده لس ورځي ځلور مياشتي دی چي کله داول ميړه دوفات لس ورځي ځلورمياشتي تيري سي په دغه وخت کي نوي نکاح له عمر سره صحيح کيدای سي.

چی کم طرف دي خوښ وي هلته ولاړه سه په دي ويلو باندی که نيت وو طلاق واقع کيږي:

سوال: (۵۸۳) په کنايي طلاق کي دښځي دبد اخلاقي يا غلطي له امله هغي ته دزجر او توبيخ اوجواب ردولو دځرګندولو لپاره يي وويل چي چيري ستا خوښه وي ولاړه سه زما ګذاره نه سي کيدای نور په تنګ سوم په زړه کي دخفګان او غم اوسيدو په وجه پريشانه اوبي قراره هم يم ليکن دلالة الحال نه وو يعني دښځي سامانونه او نور ديته حواله نه کړل سول اوبيله يي نه کړه بلکي لاس يي هم نه ورسره ولګوی نو دزړه دبي قراري يا دښځي دبي ادبی اوبدخويي په وجه دزړه په تنګيدو سره دبائن شبهه کيدا ی سي اوکه نه؟ دده اصلي اراده دښځي واقعي ايستل نه وو؟

جواب: په دي الفاظو کي که نيت دطلاق وي اويا حال او قرينه دطلاق وي نو ددرمختار دتفصيل مطابق طلاق واقع کيږي (۲).

ازاده مي کړی چی دری ځله يی وويل نو کم طلاق واقع سو: **سوال**: (۵۸۴) دښځي او دميړه جنګ وسو اوجنګ اوږد سو ښځي خپل ميړه ته وويل چي ما ازاده کړه او

---

(۱) فالكنايات لاتطلق بها قضاء الا بنية او دلالة الحال (الدرالمختار على هامش ردالمحتار باب الكنايات ج۲ ص ۲۳۵) لست لك بزوج او لست لك بامرأة الخ طلاق ان نواه (درمختار) لان الجملة تصلح لانشاء الطلاق كما تصلح لانكاره فيتعين الاولى بالنية وقيد بالنية لانه لا يقع بدونها اتفاقا لكونه من الكنايات (ردالمحتار باب الصريح ج۲ ص ۲۲۳. ط. س. ج ۳ ص۲۹۲ – ۲۹۸). ظفير

(۲) فنحو اخرجي واذهبي الخ يتحمل ردا الخ ففي حالة الرضاء الخ تتوقف الاقسام الثلاثة تاثيرا على نية الخ وفى الغضب توقف الاولان وان نوي وقع والا لا وفى مذاكرة الطلاق يتوقف الاول فقط الخ (الدرالمختار على هامش ردالمحتار باب الكنايات ج۲ ص ۲۳۷. ط. س. ص ۲۹۸). ظفير

فارغنامه وليکه او ما خپل مهر هم درته پريښودی اولاد هم ميړه فارغنامه وليکله او دری ځله يي لفظ دازاد هم وويلی پنځلس ورځي وروسته ښځه بيا دهغه ميړه کره راغله په داسي صورت کي ددي ساتل جائز دي او که نه؟

جواب: په دي صورت کي پرښځی بائن طلاق واقع سو خوکه ميړه صريح لفظ دطلاق دری ځله نه وي ويلی نو په دي سره يو بائن واقع کيږي لکه څنګه چي په درمختار کي دي چي له يوه بائن څخه وروسته بل بائن نه واقع کيږی ([1]) اوله يوه بائن طلاق څخه وروسته اول ميړه بي له حلالي له دي سره نکاح کولای سي په عده کي هم او له عدی څخه وروسته هم ([2]) نو که واقعه همداسي وي نو ددي اول ميړه دي له دي سره بيا نکاح وکړي اوکه چيري ميړه دری صريح طلاقونه دطلاق په لفظ سره ورکړي وي نوبيا اول ميړه بي له حلالي له دي سره نکاح نه سي کولای ([3]).

هيڅ تعلق مو نسته، دا يي بي له نيته دطلاق وويل نو څه حکم دی؟ **سوال**: (**۵۸۵**) زيد ددرد په حالت کي خپلي ښځي ته په خپل مينځ کي دجنجال او بيا بيا دهغي ددي ويلو په وخت کي چي کله ته ماته خرچه او نفقه نه راکوي نو ستا له ما سره هيڅ تعلق نسته داسي وويل بي شکه هيڅ تعلق نسته اودايي څو ځله وويل، په دويم ځل په بله موقع کي دجګړي په دوران کي زيد ښځي ته وويل چي کله زما ستاسره هيڅ تعلق نسته نو خرچي او نوري تقاضاوي ولي کوي او څو ځله دا الفاظ وويل سوه خو يوځل يي هم دطلاق نيت نه وو نو په دي صورت کي طلاق واقع سو اوکه نه؟

جواب: چي کله دزيد نيت په دي الفاظو کي دطلاق نه وو نو دده ښځه طلاقه نه سوه ځکه چي دا الفاظ هغه کنايات دي چي په حالت دغضب کي هم که په دوی کي نيت دطلاق وي نو طلاق واقع کيږي کني نه. کذا فی الدر المختار ([4]).

([1]) لا يلحق البائن البائن (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب الکنايات ج۲ ص ۷۴۲ ط. س. ج ۳ ص ۳۰۸). ظفير

([2]) وينکح مبائنته بما دون الثلاث فی العدة وبعدها بالاجماع (ايضا باب الرجعة مطلب فی العقد فی المبائنة ج۲ ص۷۳۸ . ط. س. ج۳ ص ۴۵۹). ظفير

([3]) لا ينکح مطلقة من نکاح صحيح نافذ الخ بها ای بالثلاث لو حرة الخ حتی يطأها غيره الخ بنکاح نافذ الخ وتمضي عدته (ايضا ج۲ ص۷۳۹. ط. س. ج ۳ ص ۴۰۹). ظفير

([4]) فالکنايات ثلاث ما يحتمل الرد او ما يصلح للسب اولا فنحو اخرجی وأذهبی وقومی الخ يحتمل ردا ونحو خلية برية وحرام بائن ومرادفها بتة بتلة يصلح سبا ونحو اعتدي واستبرئي رحمك، انت حرة الخ لا يحتمل السب ولا الرد ففي حالة الرضاء ای غير الغضب ومذاکرة الطلاق تتوقف الاقسام الثلاثة تاثيرا علی نية الخ وفي الغضب توقف الاولان ان نوی والاولان (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب الکنايات ج۲ ص ۷۴۰. ط. س. ج۳ ص۲۹۸). ظفير

د(پریښودي) په لفظ سره بائن طلاق واقع کیږي څکه نو دوهم وار نکاح کیدای سی: **سوال**: (۵۸۶) زید خپلي ښځي هندي ته دیوي ډلي په منځ کي داسي وویل چي پري مي ښودي پري مي ښودي پري مي ښودي او دایي له خپل کور څخه وایسته تر اوسه عده پوره سوی نه ده اوس زید او هنده دواړه رجوع کول غواړي نو آیا زید له هندي سره نکاح کولای سي او هنده طلاقه سوه او که نه؟

جواب: دا لفظ کنایي دی او په کنایي کي که دطلاق نیت وي نو بائن طلاق واقع کیږي او په درمختار او د فقهي په نورو کتابونو کي دي چي له یوه بائن طلاق څخه وروسته دوهم بائن طلاق نه واقع کیږي (۱) له دي وجهي دوهم وار نکاح له دي سره کولای سی حلالي ته ضرورت نسته.

په پریږدم ویلو سره په شرط دنیت طلاق واقع کیږي: **سوال**: (۵۸۷) میکو خپلي ښځي ته یو کال وسو چي داسي ویلي او پرې اینښي ده چي فلانی نومي زه پریږدم زما ورسره هیڅ ډول تعلق نسته په دي صورت کي دده پر ښځی طلاق واقع سو او که نه؟ او هغه بل ځای نکاح کولی سي او که نه؟

جواب: که میکو ذکر سوی لفظ دطلاق په نیت ویلی وي نو دده ښځه مطلقه بائنه سوه دعدی څخه وروسته دهغي دویمه نکاح کول صحیح دي اودنیت حال له میړه څخه معلومیدای سي.

زما دکوره څخه ځه ته زما دمور پرځای یی ددي جملي دویلو څه حکم دی؟ **سوال**: (۵۸۸) زید له خپلي ښځی څخه په کورنیو معاملاتو کي خفه سو او دا الفاظ یي ورته وویل چي زما له کور څخه ولاړه سه ته زما دمور په ځای یي په دي صورت کی څه حکم دی؟

جواب: دا دواړه الفاظ کنایي دي په دي کي که نیت دظهار یا دطلاق وي نو ظهار یا طلاق واقع کیږي او که نه وي هیڅ هم نه کیږي: کما فی الدرالمختار وان نوی بانت علی مثل امي او کامي الخ برا او ظهارا او طلاقا صحت نیته ووقع مانواه لانه کنایة وان لاینو شیئا اوحذف الکل لغا وتعین الادنٰی ای البر یعنی الکرامة الخ، (۲) او چي کله دمیړه دنیت حال معلوم نه وی نو داجمله لغوه ده ظهار یا طلاق نه وربانديي واقع کیږي.

(ددواړو په مینځ کي دزوجیت کمه علاقه نسته) په دي جملي ویلو سره په نیت او قرینه سره طلاق واقع کیږي: **سوال**: (۵۸۹) هندي پرخپل میړه باندي په عدالت کي دمهر دعوه وکړه ددعوي تر فیصلي مخکي په دي الفاظو تصفیه وسوه چي خالد به له خپلي تنخوا څخه

(۱) لا یلحق البائن البائن (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب الکنایات ج۲ ص۲۴۶). ظفیر

(۲) الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب الظهار ج ۲:ص ۷۹۴. ط. س. ج ۳ ص ۴۷۰. ظفیر

لس روپی هره میاشت دګذاري لپاره ورکوي او ددواړو فریقینو په مینځ کي به دښځیتوب او میړه توب کیسه پاته نه وي نو په دي صورت کي طلاق واقع سو اوکه نه؟

جواب: دا الفاظ کنایي دي چي (ددواړو په مینځ کي دزوجیت کمه علاقه نسته) نو که په دي سره دمیړه نیت دطلاق وي یا کمه قرینه دطلاق وي نوطلاق به واقع سي که نې نه ([1]).

موطوئي ته یې دری ځله وویل ته مي پرېښودي نو څه حکم دی؟ **سوال**: (۵۹۰) یوه سړي خپلي موطوئي منکوحي ته دری ځله دالفظ وویلی چي ته مي پرېښودي نو په دي کي دحلالي ضرورت سته اوکه نه؟

جواب: که یې دطلاق په نیت دالفظ دری ځله ویلی وي نودا لفظ کنایي دي اوپه کنایي سره بائن طلاق واقع کیږي او له یوه بائن څخه وروسته بل بائن نه واقع کیږي نو له دي وجي دده پرښځه یو بائن طلاق واقع سو نو نوی نکاح بې له حلالي ددي سره صحیح ده کما في الدرالمختار ولا یلحق البائن البائن الخ ([2]).

زه ددي میړه نه یم کنایي ده چي دطلاق نیت وي طلاق وربانديي واقع کیږي: **سوال**: (۵۹۱) زید خپله منکوحه پر بد فعلي مجبوره کړه ښځي تهانه دارته شکایت وکی هغه پر میړه زور راوړی نو میړه وویل چي زه ددي میړه نه یم ملازم یم دایي وویل زید پټ سو تقریبا اته کاله وسوه نه یې څه خبر رالیږلی دی اونه خرچه ایا ښځه له بل سړي سره نکاح کولای سي اوکه نه؟

جواب: په درمختار کي دي: لست لك بزوج الخ طلاق ان نواه الخ ([3]) یعني که یې په دي لفظ سره دطلاق نیت وي نو طلاق وربانديي واقع کیږي کني نه واقع کیږي او اوس چي دمیړه دنیت دحال درك نه سي لګیدی نو حکم دطلاق نه سي کیدای که میړه بالکل مفقود الخبر وي چي دده دمرګ او دژوند هیڅ حال نه وي معلوم نو دامام مالك رحمه الله دمذهب موافق دده له مفقود کیدو څخه څلور کاله وروسته چي دوفات عده پوره کړي بیا دمفقود ښځه نکاح کولای سي ([4]).

چي ستا زړه چیري غواړي هلته ولاړه سه ، په دې ویلو سره بې له نیته نه طلاق واقع کیږي:

([1]) فالکنایات لاتطلق به قضاءا الا بنیة او دلالة الحال (الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب الکنایات ج۲ ص ۷۳۵. ط. س. ج ۳ ص ۲۹۷) سئل ألك امراة فقال لا لا تطلق اتفاقا وان نوی (درمختار) ومثله قوله اتزوجك اوقال لم یکن بیننا نکاح او لا حاجة لی فیك بدائع الخ والاصل ان نفی النکاح اصلا لایکون طلاقا بل یکون جحودا (ردالمحتار باب الصریح ج۲ ص ۷۲۳. ط. س. ج ۳ ص۲۸۳). ظفیر

([2]) الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب الکنایات ج۲ ص۷۴۶. ط. س. ج۳ ص ۳۰۸. ظفیر

([3]) ایضا باب الصریح تحت الفروع ج۲ ص۷۲۳. ط. س ج ۳ ص ۲۸۳. ظفیر

([4]) دتفصیل لپاره وګوری (الحیلة الناجزه او کتاب الفسخ والتفریق). ظفیر

سوال: (۵۹۲) دزيد او دزيد دښځي جنجال سو زيد خپله ښځه دخسرګنی څخه په دي ويلو سره راوسته چي خپل کورته يي دځان سره بيايم په لاره کي زيد دښځي ګيني وغورځولي وهل او ټکول يي ورکړه تردي چي څو ځله يي دتوري ګذارونه هم پر وکړه اوڅو ځايه يي زخمي کړه او دا الفاظ يي وويل چي ته زما دمور او خور برابره يي چي چيري دي زړه غواړي ولاړه سه که څه هم په کنايي کي دنيت اعتبار وي خو په حالت دوهلو او دغصي کي په داسي ويلو سره دطلاق له نيته پرته څه کيدای سي او که نه؟ او چي په دي لفظ سره بائن طلاق واقع سو او ددي شپږ مياشتي تيري سوي او عدت هم ختم سو نو ښځه دويمه نکاح کولای سي اوکه نه؟

جواب: په درمختار کي يي: اخرجي، او نور داسي الفاظ په هغو کناياتو کي ليکلي دي چي په حالت دمذاکري دطلاق کي هم پکښي دنيت ضرورت دی او بي له نيت څخه طلاق نه ورباندي واقع کيږي (۱) البته دشامي په باب الظهار کي دا ليکلي دي چي په: انت کامي، سره په وخت دنزاع او دجګړي او مذاکري دطلاق کي ظهار کيږي، وکذا لو نوی الحرمة المجردة ينبغي ان يکون ظهارا او ينبغي ان لايصدق قضاءًا في ارادة البر اذا کان فی حال المشاجرة وذکر الطلاق (۲) اوحکم دظهار دادی چي ترڅو کفاره دظهار اداء نه کړي نو وطی دده دښځي سره حرامه ده خو طلاق نه واقع کيږي، حاصل داچي بي له نيت څخه په ذکر سوي صورت کي دطلاق حکم نه کيږي او دنفقي دنه ورکولو په وجه هم دحنفيانو په نزد تفريق نه کيږي نو هيڅ صورت دجواز دنکاح ثاني بي له طلاقه او دعدت له تيريدو څخه نسته.

<u>**لاندي ذکر سوی صورت په شرط دنيت تفويض دی**</u>: **سوال**: (۵۹۳) دزيد او هندي دجګړي دمرورتيا دختمولو لپاره په خپل مينځ کي له صلحي وروسته زيد خپلي نوموړي ښځي هندي ته په دي شرط اقرار نامه وليکله چي که زه په پردي وطن کي تر يوه کال زيات پاته سوم يا شپږ مياشتي په خپل وطن کي وم او ستا نفقه او نور ضروريات مي اداء نه کړل نو ستا دارادي او دخواهش او دخپلي خوښي مطابق په دويم ميړه کولو سره به پرتا زموږ هيڅ ديني او دنيوي حق نه وي ددي څخه وروسته به قاضي ته زموږ دعوه دروغ او باطله ګڼل کيږي نو بناء پردي شرط په هنده طلاق واقع سو اوکه نه؟ که وي نو کم طلاق

---

(۱) والکنايات ثلث ما يحتمل الرد اوما يصلح السب اولا ولا فنحو اخرجي واذهبی وقومي الخ يحتمل ردا الخ ففي حالة الرضا الخ تتوقف الاقسام الثلثة تاثرا علی نية الخ وفي الغضب توقف الاولان ان نوی وقع والا لا (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب الکنايات ج۲ ص۷۳۹. ط. س. ج۳ ص۲۹۸). ظفير

(۲) ردالمحتار باب الظهار ج۲ ص۷۹۴. ط. س. ج۳ ص۴۷۰. ظفير

اوکم وخت واقع سو؟ او دطلاق دوقوع څخه وروسته هنده دویم میړه کولای سي اوکه نه؟

جواب: دمیړه ددي خبرو حاصل دادي چي که ما نفقه او نور ضروریات ادا نه کړل نو تاته اختیار دی چي دخپلي مرضي موافق دویم میړه وکړي نو حکم ددي دادی چي الفاظ کنایي دي په دي کي دنیت اعتبار (۱) دی که میړه په نیت دطلاق دا الفاظ ویلي وي نو په هغه صورت کي چي میړه ذکر سوی شرط پوره نه کړي ښځي ته اختیار حاصل دی چي دا خپل ځانته بائن طلاق ورکړي او دطلاق عدت په هغه صورت کي چي ښځه مدخوله وي دری حیضه دي هغه دي تیر کړي او دویمه نکاح دي وکړي (۲) او دنیت حال دمیړه څخه معلومیدای سي دنیت له معلومیدو پرته دطلاق حکم نه کیږي.

دکور څخه ووزه، په دې لفظ ویلو سره که دطلاق نیت موجود وو طلاق واقع کیږي: **سوال**: (**۵۹۴**) زید خپلي ښځي ته دا وویل چي ته زما دکور څخه ووځه زما ستا سره هیڅ تعلق نسته دزید دښځي دایستلو دوه کاله وسوه او دبکر په کورکي ده او دهغه سره یي صحبت هم کړی دی نو دا دزید په نکاح کي پاته ده اوکه نه؟

جواب: که په ذکر سویو الفاظو کي میړه دطلاق نیت کړي وي نو بائن طلاق واقع سو کني نه (۳) دطلاقه پرته که دزید ښځه دبکر په کورکي وي او زنا یي کړي وي نو دزید نکاح نه ده ماته سوي.

ښځي ته یي وویل چي که ته دمور کره ولاړې نو زما دنکاح څخه ووتي، اوس دمور کورته دتلو تدبیر څه دی؟ **سوال**: (**۵۹۵**) زید خپلي منکوحي ته وویل چي که ته دخپل مور اوپلار کره لاړې نو زما دنکاح څخه ووتلي ښځه تراوسه دمور او پلار کور ته نه ده تللي دواړه ښځه او میړه غواړي چي داسي حیله جوړه سي چي ښځه دمور او پلار کور ته و لاړه سي؟

جواب: تدبیر ددي چي دزید پر ښځه طلاق واقع نه سي دا دي چي دزید دښځي مور او پلار دي ددي سره دزید کره ملاقات وکړي او دزید ښځه دي هلته نه ځي، یو صورت بل

---

(۱) ولو قال اذهبي فتزوجي وقال لم انو الطلاق لایقع شيء الخ ویؤیده ما في الذخیرة اذهبی وتزوجي لایقع الا بالنیة وان نوی فهي واحدة بائنة (ردالمحتار باب الکنایات ج۲ ص۷۵۲. ط. س. ج۳ ص۳۱۴). ظفیر

(۲) وهي فی حق حرة تحیض لطلاق الخ بعد الدخول حقیقة اوحکما الخ ثلث حیض کوامل (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب العدة ج۲ ص۸۲۵. ط. س. ج ۳ ص۵۰۴). ظفیر

(۳) وبقیة الکنایات اذا نوی بها الطلاق کانت واحدة بائنة الخ وهذا مثل قوله الخ أخرجي واذهبي وقومي وابتغ الازواج لانها تحتمل الطلاق وغیره فلا بد من النیة (هدایه کتاب الطلاق ج۲ ص۳۵۲). ظفیر

هم دی چي په هغه کي به يو ځل طلاق واقع سي بيا به طلاق نه وي اوهغه داچي دزيد ښځه دی دخپل مور او پلار کور ته ولاړه سي يوځل به موافق دشرط طلاق بائن واقع سي او يمين به ختم سي بيا دي دوهم ځل نکاح سره وکړي بيا به طلاق نه واقع کيږي ځکه چي داسي يمين په يوځل باندي پوره کيږي (۱) هکذا في کتب الفقه.

په حرام لفظ سره کم طلاق واقع کيږي؟ سوال: (۵۹۲) زيد دغصي په حالت کي په اراده دطلاق دری ځله خپلي ښځي ته حرام، حرام، حرام ويلي دي نو دا طلاق بائن دي اوکه مغلظ او دحلالي ضرورت سته اوکه نه؟

جواب: دا طلاق بائن دی مغلظ نه دی په: البائن لايلحق البائن (۲) کي داخل دي او په دي کي دحلالي ضرورت نسته: کما في الدرالمختار والشامي لکن الرجعي لايحرم الوطی فتعين البائن وکونه التحق بالصريح للعرف لا ينافي وقوع البائن به فان الصريح قد يقع به البائن الخ (۳).

تحريري طلاق يي ورکی اوس رجوع کول غواړي نو څه حکم دي؟ سوال: (۵۹۷) دزيد واده دګل محمد دلور سره سوی وو هغه دهغي څخه سخت خفه وو ځکه چي هغي به دده دطبعي موافق يو کار هم نه کوی او داجازي پرته هر چيري تله نو ددي وجهي ده طلاق ورکی او څو کلمي يي په طريقه دفارغ نامي وليکلي چي سند پاته سي اوس ميړه درجوع هيله مند دی او دتحريري طلاقنامي څخه منکر دی نو په دي صورت کي طلاق واقع سو اوکه نه؟ او رجوع کيدای سي اوکه نه؟

جواب: دزيد پرښځه موافق دتحريري طلاقنامي بائن طلاق واقع سو اوس رجوع صحيح نه ده خوکه دواړه راضي وي نو دوباره نکاح په نوی مهر سره کولای سي (۴).

دپريښودو په لفظ سره طلاق واقع کيږی اوکه نه؟ سوال: (۵۹۸) زيد دخپلي ښځي هندي په باره کي ددي دمور په وجود کي دي ته وويل ما ستا دا لور پري ايښي ده کله به يي هم نه را وغواړم په دغه وخت کي هنده حامله وه زيد غواړي چي هنده بيرته په خپل زوجيت کي وساتي نوڅه حکم دی؟

---

(۱) وفيها کلها تنحل ای يبطل اليمين ببطلان التعليق اذا وجد الشرط مرة الا فی کلما (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب التعليق ج۲ ص۲۸۸. ط. س. ج۳ ص۳۵۲). ظفير

(۲) الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب الکنايات ج۲ ص۶۴۲. ط. س. ج۳ ص۳۰۸. ظفير

(۳) ردالمحتار باب الکنايات ج۲ ص ۶۳۹. ط. س. ج۳ ص۲۹۹. ظفير

(۴) وينکح مبائنة بمادون الثلاث في العدة وبعدها بالاجماع (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب الرجعة ج۲ ص۷۳۸. ط. س. ج۳ ص۴۰۹ مطلب في العقد علی المبائنة). ظفير

جواب: په دي صورت کي که زيد دا الفاظ په نيت دطلاق ويلي وي نو دده پرښځه يو بائن طلاق واقع سو (۱) او دحاملي عدت په وضع دحمل سره پوره کيږي اوس زيد ددي سره دوهم ځل نکاح کولای سي. (۲)

ميړه طلاق ورکی اوښځي مهر او دعدت دورځو نفقه معاف کړه نوکم طلاق واقع سو؟ سوال: (۵۹۹) زيد خپلي ښځي هندي ته طلاق ورکی اوهندي خپل مهر او دعدت دورځو نفقه ورته معاف کړه نو دا طلاق بائن سو اوکه رجعي؟ او زيد هندي ته رجوع کولای سي او که نه؟

جواب: په دي صورت کي بائن طلاق واقع سو اورجوع صحيح نه ده. (۳)

دښځي په هکله يې وويل چي داحرامه سوه نوڅه حکم دی؟ سوال: (۶۰۰) هندي خپل ميړه زيد ته څو ځله وليکل چي ستادي په خدای قسم وي چي مور پريږده زيد په دي قسم او په تيرو سوو خبرو خيال وکی اوڅو ځله يي دا وويل چي داپر مور حرامه سوه بيا زيد ته هندي قسم ورکی او ورته وي ليکل چي ته مور ته رجوع وکړه نو په داسي حالت کي زيد هندي ته رجوع کولای سي اوکه نه؟

جواب: که زيد دا الفاظ په نيت دطلاق ويلي وي نو پرهنده يو بائن طلاق واقع سو (۴) خو چي دا الفاظ کنايي دي نو ددي وجهي په بيا بيا ويلو سره هم يو طلاق واقع کيږي (۵) دطلاق بائن حکم دادی چي رجوع صحيح نه ده او نکاح په عدت کي او وروسته دعدت څخه هم کيدای سي او دحلالي ضرورت نسته او بي له حلالي نکاح کولای سي نوکه زيد بيا دهندي دساتلو اراده لري نو دوهم وار دي ددي سره نکاح وکړي اوبي له نکاح څخه يي نه سي ساتلای. (۶)

---

(۱) فالكنايات لاتطلق بها الخ الا بنية او دلالة الحال الخ سرحتك فارقتك لا يحتمل السب والرد ففي حالة الرضاء الخ تتوقف الاقسام الثلاثة تاثيرا على نية (درمختار) سرحتك من السراح بفتح السين وهو الارسال اى ارسلتك لان طلقتك لا حاجة لي (ردالمحتار باب الكنايات ج۲ ص۶۳۹. ط. س. ج۳ ص۲۹۶). ظفير

(۲) واذا كان الطلاق بائنا دون الثلث فله ان يتزوجها في العدة وبعد انقضائها (هدايه باب الرجعة ج۲ ص۳۷۸).

(۳) وحكمه ان الواقع به لو بلا مال وبالطلاق الصريحي على مال طلاق بائن (الدرالمختار على هامش ردالمحتار باب الخلع مطلب الفاظ الخلع خمسة ج۲ ص۷۷۰. ط. س. ج۳ ص۴۴۴). ظفير

(۴) وان كان الحرام في الاصل كناية يقع بها البائن الخ والحاصل ان المتاخرين خالفوا المتقدمين في وقوع البائن بالحرام بلا نية حتى لا يصدق إذا قال لم أنو لأجل العرف الحادث في زمان المتأخرين فيتوقف الان وقوع البائن به على وجود العرف كما في زمانهم (ردالمحتار باب الكنايات ج۲ ص۶۳۸. ط. س. ج۳ ص۲۹۹). ظفير

(۵) لايلحق البائن البائن (ايضا ج۲ ص۶۴۶. ط. س. ج۳ ص۳۰۸). ظفير

(۶) وان كان الطلاق بائنا دون الثلث فله ان يتزوجها في العدة وبعد انقضائها (هدايه باب الرجعة فصل فيما تحل بها ج۲ ص۳۷۸). ظفير

دپرېښودو دلفظ په ویلو سره هم طلاق واقع سو اوپه دری ځله ویلو سره څو طلاقه؟ **سوال**:

(۲۰۱) دهندوستان په عرف کي لفظ دپرېښودو بائن طلاق دی اوکه رجعي که یو سړي خپلي ښځي ته دری ځله دپرېښودو لفظ ووایي نو یو بائن طلاق به واقع وي او صریح رجعي چي په الحاق سره دری طلاقه سي، او دحلالي دوجوب سبب سي په ذکر سوي صورت کي که مېړه دا حلاله وګڼي اوپه کورکي یي وساتي نو ددي څخه اجتناب واجب دی اوکه نه؟

جواب: په درمختار او نورو کتابونو کي یي سرحتك او فارقتك په کنایاتو کي لیکلي دي [1] اوحکم دکنایاتو دادي چي دخوشحالي په حالت کي ټول کنایات پرنیت موقوف دی که نیت دطلاق وي نو طلاق واقع کېږي کني نه [2] اوپه حالت دغضب او مذاکري کي به قاضي بي له نیته هم دکنایاتو په ځینو الفاظو کي دطلاق دوقوع حکم کوي نو سرحتك اوفارقتك چي دهغو ترجمه داده (ماته پرېښودی) دکنایاتو په هغه اقسامو کي دي چي دخوشحالی په حالت کي په دوی سره طلاق واقع کېدل پرنیت موقوف دي اوپه حالت دغضب اودمذاکري دطلاق کي بي له نیت څخه پرته هم حکم دطلاق دواقع کېدو کېږي کذا في الدرالمختار او همدارنګه حکم دکنایاتو دادي چي په دوی سره بائن طلاق واقع کېږي او دیوه بائن طلاق څخه وروسته بل بائن طلاق نه واقع کېږي نو له دي وجهي څخه که یي لفظ دپرېښودو خپلي ښځي ته وویلی او نیت یي دطلاق وو یا حالت دغضب او دمذاکري دطلاق وو نو یو بائن طلاق دده پرښځه واقع سو او دویم او دریم لفظ لغوه سو اوبي له حلالی اول مېړه ددي سره نکاح کولای سي: وفي الدرالمختار ویقع باقیها ای باقي الفاظ الکنایات المذکورة الخ البائن ان نواها الخ لا یلحق البائن الخ. [3]

لفظ دازاده مي کړله کنایي ده په دي سره په وخت دنیت کي بائن طلاق واقع کېږي: **سوال**:

(۲۰۲) دزید نکاح دزینب سره په حالت دنابالغتیا کي ددي دمور په ولایت وسوه په تعین دمهر شرعي ایجاب او قبول وسوه نو په دي صورت کي نکاح وسوه اوکه نه؟ که سوي وي نو دمهر به څومره کچه وي دنومړي انجلۍ دبالغېدو څخه مخکي او دخلوت کېدو څخه هم مخکي زید په یوه کارډ کي دا الفاظ ولیکل چي زینب ما ازاده کړه او هغه یي ښځي ته ولېږی خو پرکارډ هیڅ شاهد هم نسته نو داتحریر شرعًا معتبر دي اوکه

---

[1] وګوری: الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب الکنایات ج۲ ص۶۸۹. ط. س. ج۳ ص۳۰۰. ظفیر

[2] فالکنایات لاتطلق بها قضاءًا الا بنیة او دلالة الحال (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب الکنایات ج۲ ص۶۳۵. ط. س. ج۳ ص۲۹۷). ظفیر

[3] الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب الکنایات ج۲ ص۶۴۱ - ۶۴۲، ط. س. ج۳ ص۳۰۲. ظفیر

نه؟ او ددي سره به طلاق واقع وي او که نه؟

جواب: په دي صورت کي نکاح دزيد وسوه اوشرعي مهر چي کم ويل سوي دی که ددي څخه مراد مهر وي لکه چي مشهور دی نو دا تقريبا يوسل او پنځه ويشت روپی دي اوکمه درجه دمهر شرعًا لس درهمه دي نو دشرعي مهر څخه ددوی څه مراد دی ددي معلومول په کار دی هم هغه مهر واجبيږي چي کم يو اراده سوي دی او ددخول او دخلوت څخه وړاندي په طلاق ورکولو سره نيم مهر لازميږي: قال الله تعالى: وان طلقتموهن من قبل ان تمسوهن وقد فرضتم لهن فريضة فنصف ما فرضتم (۱) اوپه تحرير او خط ليکلو سره هم طلاق واقع کيږي چي ميړه اقرار وکړي چي دا خط زما دی (۲) او ازاد لفظ ويل صريح طلاق نه دی کنايي دی که دميړه په دي لفظ نيت دطلاق وو او ميړه بالغ وي نو په دي لفظ سره يو بائن طلاق دده پرښځه واقع سو. (۳)

لفظ دپريښودو يي وويلی بيايي درجعي طلاق لفظ وويلی نوڅه حکم دی؟ سوال: (۲۰۳) دزيد او دده دښځي سليمي په خپل مينځ کي جنګ وسو دبيرولو او تنبيه ورکولو لپاره يي ديوه رجعي طلاق اراده وکړه چي ناڅاپه يي دژبی څخه دالفظ چي ماپريښووله ماپريښووله ووتی بيا يي خيال وکی چي دا الفاظ خو کنايي دی په دي يي دطلاق نيت ونه کی اوصراحة يي دا وويل چي دعمر لورته مي يو رجعي طلاق ورکی نو اوس پر سليمي يو طلاق رجعي واقع سو او که دوه يا دری دحوالي سره يي وليکی؟

جواب: دغضب حالت ددي مقتضی دی چي په لفظ دپريښودو يو طلاق بائن واقع سي ځکه چي دا ترجمه دسرحتك او دفارقتك ده اوپه هغو باندي دغضب په حالت کي بي له نيته هم طلاق واقع کيږي کما فی الدرالمختار: وفي الغضب توقف الاولان ای ما يصلح ردًا وجوابا ومايصلح سبا وجوابا ولا يتوقف ما يتعين للجواب الخ وقال قبيله في شرح قوله سرحتك وفارقتك لايحتمل السب والرد ای بل معناهما الجواب فقط الخ (۴) او بيا درجعي طلاق ورکولو په اراده دپريښودو لفظ دژبي څخه وتل دنيت دطلاق مفيد دي بيا وروسته دتکلم څخه نفي داول څنګه متصوره کيدای سي او دا تصريح هم سته چي: لا يلحق البائن البائن، نو په دوه واره (ماپريښوله) ويلو سره يوبائن طلاق واقع سو بيا په

(۱) سورة البقرة رکوع ۳۱. ظفير

(۲) وكذا كل كتاب لم يكتبه بخطه ولم يمله بنفسه لايقع الطلاق ما لم يقر انه كتابه اهـ (ردالمحتار كتاب الطلاق ج۲ ص۵۸۹. ط. س. ج۳ ص۲۴۷). ظفير

(۳) وسرحتك وفارقتك لايحتمل السب والرد الخ (الدرالمختار على هامش ردالمحتار ج ۲ ص ۶۴۱. ط. س. ج ۳ ص۳۰۰). ظفير

(۴) الدرالمختار على هامش ردالمحتار باب الكنايات ج ۲ ص۶۴۰. ط. س. ج ۳ ص۳۰۰. ظفير

دي لفظ سره چي مايو طلاق رجعي ورکی هيڅ نه واقع کيږي ځکه چي دبائن څخه وروسته رجعي نه متصور کيږي نو ددي وجهي داوصف لغوه سو اوپه حکم دالصريح يلحق الصريح والبائن (۱) به صريح طلاق دبائن سره پيوست سی او دوه بائن طلاقونه به واقع سي.

نابالغي ته يی څلور پنځه ځله وويل چی طلاق مي ورکی نوڅو طلاقه واقع سوه؟ سوال: (۲۰۴) يوه سړي خپلي نابالغي ښځي ته دغصي په حالت کي دڅو سړيانو په مينځ کي دطلاق لفظ څلور پنځه ځله وويلی او دا نابالغه انجلی موجوده نه وه نو ايا په دي حالت کي طلاق واقع سو اوکه نه؟

جواب: که طلاق ورکوونکی ميړه بالغ وي نو دده طلاق واقع سو اګر که ښځه نابالغه وی او اګرکه هم دلته موجوده نه وي (۲) ليکن غير مدخولي ته که بيل بيل طلاق ورکړی نو هغه په يوه طلاق سره بائنه کيږي او دويم دريم طلاق پردي نه واقع کيږي په درمختار کي دي: او ان فرق الخ بانت بالاولی (۳).

دمهر دقرض په بدل کی چی کم طلاق ورکړي هغه بائن دي: سوال: (۲۰۵) دزيد او دزينب يعني دښځي او ميړه په مينځ کي جنجال وسو ښځي ميړه ته وويل ته ما ولي نه پريږدي ميړه وويل چي ته مهر معاف کړه نو طلاق به درکړم ښځي وويل چي زما دګيډي څخه ستا دوه زامن اويوه لور ده هغه دمهر په عوض کي راکړه نو دمهر قرض به معاف کړم دښځي په اصرار ميړه وليکل چي ما طلاق ورکی او دقرض مهر په بدل کي مي زامن او لور ورکړل نور نه زما دښځي سره څه تعلق سته اونه دزامنو اولور سره اوښځي هم دا وليکل چي دمهر قرض مي معاف کی اوزامن اولور مي دهغه په بدل کي واخيسته نو په دي صورت کي رجعي طلاق واقع سو اوکه بائن؟ او په دي صورت کي رجوع صحيح ده اوکه نه؟

جواب: که ميړه يو ځل دا لفظ ويلی وای چي ما طلاق ورکړی يايي ليکلی واي نو دده پرښځی يو طلاق واقع سو ليکن دلته دميړه دکلام په سرکي دا الفاظ موجود دي چي که قرض مهر معافوي زه به طلاق درکړم ددي وجي وروسته چي ده کم طلاق ورکړی دی دده غرض هم دامعلوميږي چي ده طلاق په عوض دمهر کي ورکړی ځکه نو په دي صورت

---

(۱) الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب الکنايات ج۲ ص ۷۴۵. ط. س. ج۳ ص۳۰۷. ظفير

(۲) ويقع طلاق کل زوج بالغ عاقل (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ج۲ ص ۵۷۹. ط. س. ج ۳ ص ۲۳۵). ظ

(۳) الدرالمختار علی هامش ردالمحتار کتاب الطلاق باب طلاق غير المدخول بها ج۲ ص ۷۴۲. ط. س. ج ۳ ص۲۸۲. ظفير

کي يو بائن طلاق واقع سو ځکه په عوض دمال کي چي کم طلاق وي هغه بائن وي او مهر معاف سو ځکه چي ښځي هم دمهر دمعافی تصريح کړي ده اودا خبره لغوه ده چي دهلك او دنجلی په عوض کي مي مهر معاف کی ددي امله دمهر معافي دطلاق په عوض کی سوه: وحکمه ان الواقع به ولو بلا مال وبالطلاق الصريح على مال طلاق بائن. الخ درمختار (۱) اوچي کله دامعلومه سوه چي په دی صورت کي يو بائن طلاق واقع سو نو حکم ددي دادی چي رجوع پکښي صحيح نه ده خو جديده نکاح په عده کي او دعدی څخه وروسته کيدای سي نوکه ښځه دوهم ځل داول ميړه سره په نکاح کولو راضي وي بي له حلالي نکاح په جديد مهر سره صحيح ده په درمختار کي دي: وينکح مبانته بما دون الثلث في العدة وبعدها الخ (۲).

په دری بائن طلاقه ويلو سره څوطلاقونه واقع کيږی؟ سوال: (۲۰۲) که دبائن طلاق دری يا تر دريو ډير الفاظ ديوه په نيت سره ښځي ته وويل سي نو يو بائن به واقع کيږي اوکه ډير اوکه ددريو نيت وکړي اوزيات الفاظ ووايي نو دری به واقع وي اوکه نه؟ او ديوه بائن دواقع کيدو څخه وروسته که په همدغه ورځ يا په دويمه دريمه ورځ باندي صريح طلاق ورکول سي نو په عده کي دننه دبائن سره يوځای کيږي اوکه نه؟ ياکه دبائن څخه وروسته بل بائن په عده کي دننه ورکول سی نو داول سره يوځای کيږی اوکه نه؟ کله چي ښځه په اول بائن سره دنکاح څخه بيليږي نو بيا دوهم بائن يا صريح په عده کي څنګه ورسره يوځای کيدای سي؟

(۲) که يو سړی ديوه طلاق نيت وکړي او نور الفاظ دطلاق له نيته پرته دتفصيل او دتعريف لپاره مخکي يا وروسته وليکي اوپه دي الفاظو کي دبائن طلاق يابل څه نيت بالکل نه وي نو دبائن طلاق دواقع کيدو احتمال کيدای سي اوکه نه؟ مثلا داسي چي زه تابيلوم صريح طلاق درکوم يا دي دکور څخه باسم صريح طلاق درکوم يا مثلا دزوجيت دحقونو څخه دي بهر کوم صريح طلاق درکوم يا دوه لفظونه يو ځای کي او وړ ليکی چي زه تا جدا کوم او دزوجيت دحقوقو څخه دي باسم او صريح طلاق درکوم حال دا چي په لومړنيو الفاظو سره يي نه دبائن نيت ستنه اونه په دي لفظونو ورته دبائن واقع کيدو علم ستنه نو په دي صورت کي به دا رجعی ګڼل کيږي اوکه بائن؟

جواب: قاعده په دي کي هغه ده چي په درمختار کي ليکلي ده: الصريح يلحق الصريح ويلحق البائن بشرط العدة والبائن يلحق الصريح الخ ولايلحق البائن نوددي قاعدي څخه

(۱) الدرالمختار على هامش ردالمحتار کتاب الطلاق باب الخلع ج۲ ص۷۷۰، ط. س. ج۳ ص۴۴۴. ظفير
(۲) ايضا باب الرجعة ج ۲ ص ۷۳۸. ط. س. ج ۳ ص۳۰۹. ظفير

ستا دپوښتنو جواب ښکاره سو. ([1])

(۲) په دي صورتونوکي بائن طلاق واقع کیږي ([2]).

غیر مدخولي ته په طلاق طلاق ویلو سره کم طلاق او ځومره واقع کیږي؟ **سوال:** (۲۰۷) بالغ زید خپلي نابالغی غیر مدخولي ښځي ته وروسته دبلوغ څخه دخط په ذریعه داسي طلاق ورکی چي دنن څخه ي تاته طلاق طلاق طلاق درکړی دی نو په دي صورت کي ښځه مغلظه سوه اوکه بائنه او پردی عده لازمه ده اوکه نه؟

جواب: که ښځه غیر مدخوله وي نو داول طلاق سره دامطلقه بائنه سوه او نور طلاقونه پردي نه واقع کیږي ([3]) او دخلوت او جماع دنه کیدو په صورت کي پرهغه عده هم نه ده لازمه کما قال الله تعالٰی: وان طلقتموهن من قبل ان تمسوهن فما لکم علیهن من عدة تعتدونها، الایة، نو بي له عدی څخه دابښځه دبل سړي سره نکاح کولای سي اوکه داول میړه سره دوهم ځل نکاح کول غواړي نو دحلالي ضرورت نسته بي له حلالي داول میړه سره نکاح کولای سي.

دغیر مدخولي سره ددریو طلاقو څخه وروسته بي له حلالي نکاح کولای سي اوکه نه؟ **سوال:** (۲۰۸) زید یوعقد وکی خو درا واده کولو مخکي یي دڅو کسانو په حضورکي خپلي منکوحي ته دری طلاقه ورکړل اوعده تیره سوه اوس دوه کاله وروسته زید ذکر سوي ښځه راواده کړه اوخپل کورته یي راوستله نو په دي صورت کي دحلالي ضرورت سته اوکه نه؟

جواب: که غیر مدخولي ته جدا جدا دری طلاقه ورکړل سي نو دا یو بائن طلاق کیږي او دویم او دریم طلاق په دي نه واقع کیږي نو ددي وجهي میړه بي له حلالي ددي سره نکاح کولای سي ([4]) اوبي له نوي نکاح هغه ساتل اورجوع ورته کول حرام دي، *کذافی الدرالمختار* ([5]).

([1]) الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب الکنایات ج ۲ ص ۷۴۵. ط. س. ج ۳ ص۳۰۷ – ۳۰۸. ظفیر

([2]) الصریح یلحق الصریح ویلحق البائن بشرط العدة والبائن یلحق الصریح (درمختار) کما لو قال فما انت بائن او خالعها علی مال ثم قال انت طالق (ردالمحتار باب الکنایات ج۲ ص ۷۴۵. ط. س. ج۳ ص۳۰۷). ظفیر

([3]) قال لزوجته غیر المدخول بها انت طالق یا زانیة ثلاثا وقعن الخ وان فرق بوصف او خبر اوجمل بعطف او غیره بانت بالاولی لا الی عدة ولذا لم تقع الثانیة (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب طلاق غیر المدخول بها ج۲ ص۷۲۴. ط. س. ج ۳ ص ۲۸۴). ظفیر

([4]) قال لزوجته غیر المدخول بها انت طلاق ثلثا الخ وقعن الخ وان فرق الخ بانت بالاولی لا الی عدة ولذا تقع الثانیة (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب طلاق غیر المدخول بها ج۲ ص۷۲۴. ط. س. ج ۳ ص۲۸۴، ۲۸۲). ظ

([5]) وینکح مبانته بما دون الثلث في العدة وبعدها بالاجماع (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب الرجعة ج۲ ص ۷۳۸ ط. س. ج۳ ص۴۰۹). ظفیر

په (لیري سه، ووزه) ویلو کی که دمیړه نیت دطلاق وي نو بائن طلاق واقع کیږي: سوال: (۲۰۹) یوه سړي دخپلي لور (چي داولي ښځي څخه وه) په روژه نیولو خوشحالي وکړه په دي سره دده دوهمه ښځه خفه سوه او جګړه یي وکړه میړه وویل چي ستا زما سره هیڅ تعلق نسته لیري سه ووزه اودکور څخه یي وایستله دابنځه دیوه نامحرم کور ته ولاړه بیا راغله لنډه دا چي څو ځله جنګ وسو اومیړه دا الفاظ وویل او دکور څخه یي وایستله ښځي دی ډیر تنګ کی نو په دي صورت کي طلاق واقع سو اوکه نه؟ او دنکاح دتازه کولو ضرورت سته اوکه نه؟

جواب: دا الفاظ چي میړه څوځله دخپلي ښځي په باره کي استعمال کړي دي کنایي طلاق دی چي دنیت ضرورت پکښي سته نو که ددي الفاظو دویلو په وخت کي دمیړه دطلاق نیت وي نو بائن طلاق واقع کیږي اوکه یي دا الفاظ په نیت دطلاق نه وي ویلي نو طلاق واقع نه سو: قال في الدرالمختار وفي باب الکنایات لا تطلق الا بنیة او دلالة الحال الخ (۱) قال الشامي قوله قضاء قید به لانه لایقع دیانة بدون النیة الخ (۲) وفیه ایضا واراد بهذا البعض ما یحتمل الرد کاخرجي واذهبي وقومي الی ان قال ولذلك توقف فیها علی النیة. فقط (۳)

فُلَانَةٌ عَلَيَّ حَرَامٌ، په دي ویلو سره طلاق واقع کیږي اوکه نه؟ سوال: (۲۱۰) یوه سړي غائبانه ددوو شاهدانو عاقلانو بالغانو ازادو په مینځ کي دخپلي ښځي نوم واخیستی چي فُلَانَةٌ عَلَيَّ حَرَامٌ زه دا خرڅول غواړم نو په دي الفاظو سره بائن طلاق واقع سو اوکه رجعي؟

جواب: په دي صورت کي دده پرښځی بائن طلاق واقع کیږي که یي نیت دطلاق وي اوکه په داسي ځای کي وي چي هلته عرف داسي وي چي دحرام څخه طلاق مرادیږي یعني په منزله دصریح طلاق سره معروف وي نو په دي صورت کي درمختار وغیره فرمایي چي بي له نیته هم طلاق واقع کیږي: بائن وحرام الی ان قال ففي حالة الرضاء لا یقع الطلاق في الالفاظ کلها الا بالنیة کذا في الهدایة فی قوله وبقیة الکنایات الخ وبرهان قوله: اوکه په یوه ځای کي دعرف جاري وي، بقول صاحب الدرالمختار قال لامراته انت علی حرام (الی ان قال) یفتی بانه طلاق بائن وان لم ینوه لغلبة العرف الخ (۴) قال الشامي قوله

---

(۱) الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب الکنایات ج۲ ص۷۳۵. ط. س. ج۳ ص۲۹۶. ظفیر

(۲) ردالمحتار باب الکنایات ج۲ ص۷۳۶. ط. س. ج ۳ ص ۲۹۷. ظفیر

(۳) ایضا ط. س. ج۲ ص۷۳۶. ظفیر

(۴) الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب الایلاء ج۲ ص۷۲۰ – ۷۲۱. ظفیر

وان لم ینوه قلت الظاهر انه اذا لم ینو شیئا اصلا یقع دیانة ایضا وفیه ایضا قوله لغلبة العرف اما کونه بائنا فلانه مقتضی لفظ الحرام لان الرجعي لایحرم الزوجة مادامت في العدة وانما یصح وصفها بالحرام بالبائن (۱).

زما ستا سره هیڅ تعلق نسته، په دې ویلو سره طلاق واقع سو اوکه نه؟ سوال: (۲۱۱) زید دبکر زوی خپله ښځه حمیده دپلار کورته دتللو څخه منعه کړه چي کله دا په اجازت دخسر یعني بکر دعمر کورته دراتلو لپاره تیاره سوه نو زید دمور په رضاء خپلي ښځي ته بیل وویل چي که ته دخپل پلار کورته ځي نو زما ستا سره هیڅ تعلق نسته اوس دا ویل دزید خپلي ښځي ته په تنهایي کي معتبریږي اوکه نه؟ څه وخت وروسته دزید یوه پارچه دحمیدي دپلار په نامه راغله په هغي کي هم زید لیکلي وه چي زما دخط نه درلیږلو سبب به تاته دیوچا دخولي څخه معلوم سوي وي، په دې سره یي اشاره دخپلي ښځي لور ته وه.

جواب: کم الفاظ چي دطلاق دي او په کمو الفاظو سره چي شرعا طلاق واقع کیږي نو هغه که میړه په تنهایي کي ښځي ته ووایی اوکه په ډله کي طلاق واقع کیږي خو په دې صورت کي چي زید کم لفظ خپلي ښځي ته په تنهایي کي ویلی دی نو هغه دصریح طلاق لفظ نه دی بلکه کنایي دی او دکنایي حکم دادی چي که په نیت دطلاق سره وویل سي نو بائن طلاق ورباندي واقع کیږي او که داسي نه وي هیڅ هم نه ورباندي کیږي نو که زید دطلاق ورکولو په نیت سره دالفظ ویلی وي نو یو بائن طلاق واقع سو اوکه یي نیت دطلاق نه وو نو طلاق واقع نه سو دزید څخه دپوښتنه کولو ضرورت دی (۲) فقط والله اعلم بالصواب، او دلیل ددي قول چي دا کنایي دی او دکنایي حکم دادی: لا یقع الطلاق الا بالنیة او بدلالة الحال عالمگیري مصري (ص۳۵۱) وایضا فیه وفي الفتاوی: لم یبق بیني وبینك عمل ونوي یقع کذا في العتابیة (عالمگیری ص۳۵۲).

زما دطرفه جواب دی په دې سره طلاق واقع سو اوکه نه؟ سوال: (۲۱۲) زما میړه ماته دغصي په حالت کي وویل چي که تر ماښامه پوري زما کور ته رانغلي نو زما له لوري درته جواب دی اوزه تر ماښامه پوري دده کورته نه ورغلم زید دا الفاظ ماته مخامخ هم وویل اوپه همدغه وخت کي نور خپلوان هم موجود وه او بیا یي ددې الفاظو اقرار زما دمشر اکا په مخکي هم وکی او هلته یي داهم وویل چي دمهر معافي نامه هم زماسره

---

(۱) ردالمحتار باب الایلاء ج۲ ص۷۲۲. ظفیر

(۲) فالکنایات لا تطلق قضاء الا بنیة او دلالة الحال وهي مذاکرة الطلاق او الغضب (درمختار) قوله قضاء قید به لانه لایقع دیانة بدون النیة ولو وجدت دلالة الحال (ردالمحتار باب الکنایات) . ظفیر

موجوده ده چي په خپله دطلاق دنيت قرينه کيدای سي اوس زيد ددي الفاظو انکار کوي او وايي چي ما داسي الفاظ ويلي وه چي که تر ماښامه پوري ته زما کورته رانغلي نو جواب به درکړم او دغصي دحالت انکار کوي خو زماپه نزد دی په خپل اقرار کي رښتينی نه دی دغضب په حالت کي ددي الفاظو دصادريدو ګواه زما مشر اکا مور انا او مشره اوکشره وريندارګاني دي چي ثقه اوعادلان دي نو په دي صورت کم پرما طلاق واقع سو اوکه نه؟ اوکه واقع سوي وي نوقضاءً هم واقع سو اوکه صرف ديانةً؟ اوماته ددي ميړه سره اوسيدل او ده ته په وطی قدرت ورکول حلال دي اوکه حرام؟ او چي طلاق واقع سو نوکم طلاق واقع سو او زيد داهم وايي چي په دغه وخت کي زما دطلاق نيت بالکل نه وو خو زه په دي کي دی رښتينی نه ګڼم؟

جواب: په دي صورت کي چي دښځي کم بيان په عادلو شاهدانو سره ثابت دی نو دهغه موافق بائن طلاق واقع سو ځکه چي صرف لفظ دجواب دطلاق څخه کنايي ده او په کنايي کي اګر که نيت ته ضرورت وي خو چي قرينه ددلالة الحال اواراده دطلاق وي نوقضاءً به دطلاق حکم کيږي نو ددي امله چي ښځه په دي کي دقاضي په څير ده په وخت دوجود ددلالت کي چي حالت دغضب دی ښځي لره هم هغه معامله کول په کار دي چي کمه قاضي کوي يعني دميړه څخه دي جداسي اووطی دي حرامه وګڼي چي ترڅو تجديد دنکاح نه وي سوی: قال الشامي ويقع قضاءً الا ان يکون مکرها والمرأة کالقاضي اذا سمعته اواخبرها عدل لا يحل لها تمکينه الخ [1] ددي عبارت څخه واضحه سوه چي که ښځي ته دميړه دقول تصديق وي نو دميړه دنيت اعتبار دی نه کوي اودطلاق دواقع کيدو اعتقاد دی وکړي ځکه چي دغضب حالت چي په شهادت ثابت دی په هغه کي دطلاق دوقوع لپاره دنيت ضرورت نسته اوقاضي او ښځه به په دي باره کي دميړه تصديق نه کوي او دميړه دغضب دحالت څخه انکار وروسته ددي څخه چي په شهادت ثابت دي معتبر نه دی: قال في الدرالمختار لان مع الدلالة لايصدق قضاءً في نفي النية الخ باب الکنايات [2] شامي جلد ثاني. واضحه دي وي چي داپوښتنه اول دميړه دلوري راغلي وه چي په هغه کی دپوښتني ډول بدل وو په هغي کي ددي پرځای چي زما دطرف څخه جواب دی دالفظ ليکلی وو چي که ته تر مازديګره پوري رانغلي نوزه به جواب درکړم يابه دي دخپلي نکاح څخه وباسم دهغه جواب موږ دسائل دپوښتني موافق داسي ليکلي وو چي جواب به درکړم صيغه داستقبال ده نو ددي وجهي په دي

---

[1] ردالمحتار باب الصريح ج۲ ص۵۹۴. ط. س. ج ۳ ص ۲۵۱. ظفير

[2] الدرالمختار على هامش ردالمحتار باب الکنايات ج۲ ص۶۴۱. ط. س. ج۳ ص۳۰۲. ظفير

سره طلاق نه واقع کيږي، خو ددي پوښتني څخه معلومه سوه چي دمیره بیان غلط دی او په ثقه شاهدانو سره دا امرثابت دی چي میره دالفظ ويلی دی چي زما دطرف څخه جواب دي او دغضب حالت کيدل هم ثابت دي نو ددي وجهي په پوښتل سوي صورت کی دطلاق دواقع کیدو حکم ضروري دی او مخکي چي کم جواب ليکل سوی وو هغه دپوښتني دغلطۍ دوجهي صحيح نه دی.

کله هم ماته مه راځه، په دې ويلوسره طلاق واقع کيږي اوکه نه؟ **سوال**: (۲۱۳) زيد خپلي ښځي ته په غصه کي وويل چي ددي وخت څخه وروسته به ته کله هم ماته نه راځي هغه وويل چي زه کم ځای غواړم دلته به کارکوم ده وويل چي تاته اختيار دي په زړه کي يي داخيال وو چي ګناه به مي ختمه سي؟

جواب: دا الفاظ ويل دميره چي اوس کله هم ماته مه راځه او دښځي دهغه په جواب کي داويل چي زه کم ځای وغواړم هلته به کار کوم او ميره داويل چي تاته اختيار دی دا الفاظ نه دصريح طلاق دي اونه دکنايي نو په دي الفاظوسره طلاق نه واقع کيږي ځکه چي ميره چي څه ويلي دي چي تاته اختيار دی هغه دښځي دکلام جواب دي او دښځي کلام دادي چي زه کم ځای غواړم هلته کار کوم.

د (ما پريښودله) په ويلو سره طلاق واقع کيږي اوکه نه؟ **سوال**: (۲۱۴) دزيد اراده ددريو مياشتو راهيسي خپلي ښځي ته دطلاق ورکولو وه دری مياشتي وروسته يي په پټه طلاق ورکی خلګو چي دي هرځومره پوهوی خو ده طلاق نه پريښووی اوزيد دا الفاظ دری ځله ويلي دي ما پريښودله او دزيد نيت تراوسه هم دادي چي داپه يوه طريقه زما څخه بيله سي زيد ته معلومات نه وو چي په کمو الفاظو سره طلاق واقع کيږي، ايا داطلاق واقع سو اوکه نه؟ اوکه واقع سوی وي نوکم قسم دی بائن اوکه مغلظ؟

جواب: دا لفظ چي کم زيد ويلی دی چي ما پريښوله که په دي سره مراد دده خپله ښځه وي اوپه دي باره کي يي دا ويلي وي اونيت يي په دي کي دطلاق وي نو يوبائن طلاق په دي سره واقع کيږی ځکه دا الفاظ دکنايي دی او په کنايي کی دطلاق په نيت سره بائن طلاق واقع کيږي (۱) او ديوه بائن څخه وروسته بل بائن نه واقع کيږي نو ددي وجهي يو بائن طلاق واقع سو: هکذا في الدر المختار وغيره برية حرام بائن الی قوله سرحتك

---

(۱) زموږ دزماني عرف بدل سويدی په عمومي ډول چي کله ښځي ته يي وويل چي ماته، يا دا، يا ښځه پريښوده نو ددی څخه طلاق مراد وي نو داستعمال دعرف په اعتبار په دی سره رجعي طلاق واقع کيږي لکه څنګه چي په عالمګيري ج۲ ص۳۹۸، کشوري کي دي: وکان الشيخ الامام ظهير الدين المرغينايي رحمه الله يفتی بقوله بهشتيم بالوقوع بلا نية ويکون الواقع رجعيا آه همدارنګه په سرحتك وغيره کي دشامي تفصيل په عرف دی، والله اعلم.

فارقتك درمختار، لايلحق البائن البائن اذا امكن جعله اخباراً الخ (الدرالمختار على هامش الشامي ج۲ ص۷۴۲).

ستا لور زما وړنه ده ونيسه دا فارغنامه اودرى كاښي يي ورکړل، نوڅه حکم دى؟ سوال: (۷۱۵) يوه سړي دخپلي ښځي پلارته وويل چي ستا لور زما وړنه ده ونيسه دافارغ نامه دايي وويل اودرى کاڼي يي دخپلي ښځي دپلار په لاس کي کښيښوول نو په دي صورت کي يو طلاق واقع سو اوکه نه؟

جواب: دا الفاظ کنايي دي که يي نيت دطلاق وي نو طلاق واقع سو کني لغوه دي: قال في الشامي في الكنايات وذكر في الفتح هناك لوقال انت بثلاث وقعت ثلاث ان نوى لانه محتمل لفظه الخ وفيه ايضا في باب الصريح واراد بما اللفظ اوما يقوم مقامه من الكتابة المستبينة او الاشارة المفهومة فلا يقع بالقاء ثلثة احجار اليها او بامرها بحلق شعرها وان اعتقد الالقاء والحلق طلاقا كما قدمناه لان ركن الطلاق اللفظ او ما يقوم مقامه مما ذكر كمامر (۱) وفيه ايضا في شرح قوله وركنه لفظ مخصوص الخ هو ما جعل دلالة على معنى الطلاق من صريح او كناية فخرج الفسوخ على مامر واراد اللفظ ولو حكما ليدخل الكتابة المستبينة واشارة الاخرس والاشارة الى العدد بالاصابع في قوله انت طالق كذا كما سياتى وبه ظهر ان من تشاجر مع زوجته فاعطاها ثلثة احجار ينوي الطلاق ولم يذكر لفظ لا صريحا ولا كناية لايقع عليه كما افتى به الخير الرملي وغيره. الخ (۲) فقط

طلاق مى ورکى، په دې ويلوسره طلاق واقع سو اوکه نه؟ سوال: (۷۱۶) عمر دخپلي ښځي وهل شروع کړه چي دعمر ورور زيد راغى اوعمر ته يي وويل که ته اصيل يي نو طلاق ورکړه نو عمر درى ځله داوويل طلاق مي ورکړى خالد وايي چي داطلاق دعمر پرښځه واقع نه سو ځکه چي په دي کي صريح اضافت نسته اوبکر وايي چي دا طلاق دعمر په ښځى واقع سو او دعمر ښځه په مغلظ بينونة سره بائنه سوه اوبي حلالي عمر دا بالكل نه سي ساتلاى نوپه دى دواړو کي صحيح قول دچا دى؟

جواب: په دوى کي صحيح قول دبکردى صريح اضافت ضروري نه دى او دقرائنو لحاظ هم کيږي په شامي کي دي: ولا يلزم كون الاضافة صريحة في كلامه (۳) وفيه ايضا لو قال امراة طالق اوقال طالقت امراة ثلثا وقال لم اعن امراتي يصدق ويفهم منه انه لو لم يقل

---

(۱) ردالمحتار باب الصريح ج ۲ ص۵۹۰. ط. س. ج ۳ ص ۲۴۷. ظفير
(۲) ردالمحتار کتاب الطلاق ج۲ ص ۵۷۴. ط. س. ج ۳ ص ۲۳۰. ظفير
(۳) ردالمحتار باب الصريح ج۲ ص۵۹۰ . ط. س. ج ۳ ص ۲۴۸. ظفير

ذلك تطلق امراته لان العادة ان من له امراة انما يحلف بطلاقها لا بطلاق غيرها ([1]) الخ وفيه وسيذكر قريبا ان من الالفاظ المستعملة: الطلاق يلزمني والحرام يلزمني وعلى الطلاق وعلى الحرام فيقع بلانية للعرف الخ فاوقعوا به الطلاق مع انه ليس فيه اضافة الطلاق اليها صريحا فهذا يؤيد لما في القنية وظاهره انه لايصدق في انه لم يرد امراته للعرف ([2]). فقط

ښځي ته يې کنايي اوصريح الفاظ وويل حتّى تعليقا هم نوڅه حکم دي؟ **سوال**: (۲۱۷) زيد خپلې ښځي هندي ته متوجه سو اودا الفاظ يي وويل چي يا خوته ولاړه سه که ته زماسره اوسيدل غواړي نوهره ورځ به يوه دړی داني ميچن کوي اوگندو به پورته کوی اوټول کارونه به کوي کنې نو بيا تاته طلاق دی او ددي څخه وړاندي زيد ددرد په حالت کي خپلي منکوحي ته داهم ويلی وه چي زما ستاسره هيڅ تعلق نسته زه به تا پريږدم زه تاته طلاق درکوم بيايي هم وويل ماطلاق ورکړی دی خو دا خبری يي يوازي ښځي ته وکړي او دبل چا په وړاندي يي نه دي ويلي نو په دي کي شرعا څه حکم دی؟

جواب: په دي صورت کي چي زيد څومره الفاظ خپلي منکوحي ته ويلي دي نو هغه ټول کنايي دي که په هغو کي دطلاقو نيت وي نو بائن طلاق واقع کيږي لکه مثلا: زما ستاسره هيڅ تعلق نسته ([3]) ځيني الفاظ داسي دي چي په هغو کي دطلاق وعده ده لکه طلاق به درکړم په دي الفاظو سره في الحال طلاق نه واقع کيږي خودا الفاظ چي که ته زماسره اوسيدل غواړي الخ په دي کي دالفظ چي: کنې بيا به طلاق، ددي مطلب دادی که داسي نه کوي نو پرتا طلاق دی نو دا الفاظ دتعليق دي په دي کي داحکم دی چي که دي ښځي دغه کارونه ونه کړل نو پردي طلاق واقع سو ([4]) يعني يو رجعي طلاق په دی الفاظو سره دشرط دتحقق څخه وروسته واقع سو اوحکم دداسي طلاقو دادی چي که په عده کي دې ته رجوع وکړي نونکاح به قائمه وي کنې نکاح به ماتيږي اوبيا بې له نوی نکاح دا ښځه دده ښځه نه ګڼل کيږي ([5]).

([1]) ايضا ج ۲ ص ۵۹۱. ط. س. ج ۳ ص ۲۴۸. ظفير

([2]) ايضا ج ۲ ص ۵۹۱. ط. لر. ج ۳ ص ۲۴۸. ظفير

([3]) لم يبق بيني وبينك عمل ونوي الطلاق يقع ولو قال انا برى من نكاحك يقع الطلاق اذا نوي (عالمگيري مصري باب الكنايات ج۱ ص۳۷۲). ظفير

([4]) واذا اضافه الى شرط وقع عقيب الشرط مثل ان يقول لامرأته ان دخلت الدار فانت طالق وهذا بالاتفاق لان الملك قائم في الحال (هدايه باب الايمان في الطلاق ج۲). ظفير

([5]) اذا طلق الرجل امراته تطليقة رجعية او تطليقتين فله ان يراجعها في عدتها رضيت بذلك اولم ترض لقوله تعالى: (فامسكوهن بمعروف الايه) من غير فصل (ايضا باب الرجعة). ظفير

تاته طلاق زما دکور ځخه ووزه يي وويل نوطلاق واقع سو اوکه نه؟ **سوال:** (۲۱۸) يوه سړي خپلي ښځي ته دجنګ په وخت کي وويل تاته طلاق يو دوه دری ته زما دکور ځخه ووزه داخو ددي سړي وينا ده چي ما يوازي ښځي ته دبيرولو دپاره دا ويل نه دطلاق په نيت داسړی ځه تعليم لرونکی دی اودی په دي خيال دی چي دط، ل، ق، په حروفو سره طلاق واقع کيږي نه په ت سره خو دځينو شاهدانو وينا ده چي ده لفظ دطلاق ويلی دی او موږ هم په دي پوه سوي يو ددي سړي ښځي خواول دادعوه وکړه چی ده ماته طلاق راکړی دی او ماته مهر اخستل په کار دي خو دي سړی دطلاق دواقع کيدو ځخه انکار وکړی او اوس دابنځه هم وايي چي ماته معلومه نه ده چي ده ماته لفظ دطلاق ويلی دی اوکه نه ده دتراق لفظ يا بل ځه ويلی دی غرض داچي دا ددعوي ځخه لاس اخستونکی ده نو په دي صورت کي کم طلاق واقع سو؟

جواب: که دوه عادل لمونځ ګذاره پرهيزګاره سړي ددي امر شاهدان وي چي ميړه لفظ دطلاق ويلی دی نو په دي صورت کي دده پرښځی دری طلاقه واقع سوه: قال فی الدرالمختار ونصابها لغوها من الحقوق سواء كان الحق مالا او غيره كنكاح وطلاق الخ رجلان الخ اورجل وامراتان الخ [1] نو چي کله دوه عادل شاهدان ددي امرسته چي ميړه لفظ دطلاق ويلی دی نو طلاق واقع اوثابت دی اوبيا ددي بحث هيڅ ضرورت نسته چي دتراق په لفظ سره طلاق واقع کيږي اوکه نه؟ ددي بحث متعلق يي په درمختار کي داتحقيق کړی دی: ويقع بها ای بهذه الالفاظ وما بمعناها من الصريح ويدخل نحو طلاغ وطلاك وتلاك الخ بلا فرق بين عالم وجاهل وان قال تعمدته تخويفا لم يصدق الخ و في الشامي قال في البحر ومنه الالفاظ المصحفة وهی خمسة فزاد علی ماهنا تلاق وزاد في النهر ابدال القاف لاما الخ ددي حاصل دادی چي په مصحفو الفاظو سره هم طلاق واقع کيږي او دا ويل چي تراق يو دوه دری ته زما دکور ځخه ووزه په دي کي قرينه ددي غوښتونکي ده چي په دي الفاظو سره طلاق واقع سو.

(پريښوول) صريح دی اوکه کنايي په بنګال کی هم ددي دويلو رواج دی: **سوال:** (۲۱۹) په بنګال کي خپلي ښځي ته وايي ماته پريښوولي اوعوام ددي ځخه صريح طلاق مرادوي نو په دي صورت کي صريح ورباندي واقع کيږي اوکه کنايي؟

جواب: داترجمه ده دسرحتك او فارقتك اودا کنايي الفاظ دي نودابه هم کنايي وي په دي کی به په نيت دطلاق ياپه دلالة الحال سره بائن طلاق واقع کيږي [2].

---

[1] الدرالمختار علی هامش ردالمحتار کتاب الشهادات. ج۴ ص ۵۱۵. ط. س. ج۵ ص ۴۶۵. ظفير

[2] وګوری ردالمحتار مع هامشه بالصريح ج۲ ص ۵۹۰ – ۵۹۱، ط. س. ج ۳ ص ۲۴۸. ظفير

دمور په زور یي ښځي ته فارغنامه ولیکله دوه کاله وروسته دواړه یو ځای سوه نو څه حکم دي؟ **سوال:** (۲۲۰) یوه سړي دخپلي مور په زور ښځي ته فارغنامه ولیکله دوه کاله وروسته دواړو فارغنامه غلطه وګڼله اوسره یوځای سوه نوآیا دافارغنامه صحیح ده اوکه نه؟ او اوس ددواړو یوځای کیدل حق دي اوکه نه؟

جواب: دافارغنامه صحیح سوه اوبائن طلاق دده پرښځي واقع سو په عده کي دننه اوله عدی څخه وروسته نوي نکاح کول صحیح دي دمور جبر او زیاتی بي ځایه وو خو ښځي اومیړه لره بغیر دنوي نکاح یوځای کیدل جائزنه دي، ورته ښایي چي بیا نکاح وکړي (۱).

دا یوسه چي کم ځای دي خوښه وي هلته یي نکاح وکړه زما دلوري طلاق دی نو په دي سره کم طلاق واقع سو؟ **سوال:** (۲۲۱) یوه سړي دخپل اخنبی سره په جنګ کي وویل چي ستا خور چي زما په نکاح کي ده هغه بوځه او چي کم ځای دي خوښه وي ددي نکاح وکړه زما دطرفه دیته طلاق دی نو په دي صورت کي رجعي طلاق واقع سو اوکه بائن طلاق؟

جواب: په دي صورت کي که ددي لفظ څخه چي دابوزه او چي کم ځای دي خوښه وي ددي نکاح وکړه دمیړه نیت دطلاق وو نو دده پر ښځه بائن طلاق واقع سو اورجوع بي له نکاح صحیح نه ده خو تجدید دنکاح په عده کي دننه او وروسته له عدی څخه صحیح دی (۲).

ښځي ته یي وویل چي ته پرما حرامه یي میړه وایي دامي دننبیه لپاره ویلی دي نه په نیت دطلاق نوڅه حکم دي؟ **سوال:** (۲۲۲) یوه سړي خپلي ښځي ته وویل چي ته په ماحرامه یي کله چي ورڅخه په دي اړه پوښتنه وسوه ویي ویل چي ماطلاق ورکړی دی، ددي لفظ ویونکي میړه عالم دی اوښځه یي نافرمانه ده او دده دطلاق ورکولو نیت نه وو یوازي دتنبیه لپاره یي وویل، خو سړیانو ته یي وویل چي زما دطلاق نیت نه وو صرف بیرولـه مي نو په دي صورت کي څه حکم دی؟

جواب: په دي الفاظوسره چي ته پرما حرامه یي دده پر ښځی بائن طلاق واقع سو او دپوښتني په جواب کي په دي ویلو سره چي ماطلاق ورکړی دی دوهم بائن طلاق واقع سو لکه څنګه چي په درمختار کي دي: الصریح یلحق الصریح والبائن، اوداهم په الدر

(۱) وینکح مبانته بما دون الثلاث فی العدة وبعدها بالاجماع (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب الرجعة ج۲ ص۷۳۸. ط. س ج ۳ ص۴۰۹). ظفیر

(۲) ولوقال لها اذهبي فتزوجي تقع واحدة اذا نوي (عالمگیری کنایات ج۱ ص۳۷۲) ویقع بباقیها ای باقي الفاظ الکنایات المذکورة الخ البائن ان نواها (درمختار) قوله البائن بالزوج فاعل یقع في قوله ویقع بباقیها (ردالمحتار باب الکنایات ج۲ ص۲۴۱ - ۲۴۲. ط. س. ج ۳ ص۳۰۲). ظفیر

المختار (۱)کي دي چي په کمو کنايي الفاظو سره چي طلاق واقع کيږي دهغو په ځو واره ويلو سره هم يو طلاق واقع کيږي: البائن لا يلحق البائن (۲) حاصل داچي دده پر ښځې دوه طلاقه بائن واقع سوه او په هغو کي رجوع کول بي له نوي نکاح صحيح نه ده خونوی نکاح په عده کي او وروسته دعدی څخه کولای سي او ددي سرړي دا وينا چي زما نيت دطلاق نه وو يوازي دبيرولو وو دالغوه ده.

دښځې په اړوند يې وويل چې که نکاح کول غواړي نو ودی کړي په دي صورت کی طلاق واقع سو اوکه نه؟ **سوال**: (۲۲۳) زيد خپله ښځه دبدکرداری دافواه داوريدو په وجه راونه بلله اويو ځل يې عمر ته بيان وکی چي ما تراوسه هندي ته طلاق نه دی ورکړی اونه دهندي رضاده نه زما او زما خوښه خو دجامي او دډوډی ورکولو هم نه ده هغه په خپله کاريگره ده ځکه نو ددي ورته هيڅ ضرورت نسته او دازه خپل ځان ته رابلل هم نه غواړم اونه مهر ورکول غواړم که ښځه نکاح کول غواړي نو ودي کړی خو زما مال ماته دښځي څخه راکی اوس تقريبا دری کاله وروسته زيد خپله ښځه هنده راوستل غواړي ځکه چي هنده پاك لمني ثابته سوه، نوڅه حکم دی؟

جواب: زيد خپله ښځه راوستلای سي دهغي راوستل هرومرو په کار دي ځکه چي پرهغې طلاق نه دی واقع سوی اوپه ذکر سوي صورت کي دا دزيد دنکاح څخه خارجه نه سوه.

جواب: (مکرر) که دخلعي صورت کيدای سي او ميړه ورباندي خوښ وي نو خلع دي وسي ښځه دي خپل مهر معاف کړي او ميړه دي طلاق ورکړي.

زما ګيڼې راکړه زه به دی ازاده کړمه، په دې ويلو سره طلاق واقع سو اوکه نه؟ **سوال**: (۲۲۴) ديوه کال څخه زما ښځه دپلار کره اوسيږي ماته زما دښځي قريبانو دښځي دبيولو په اړوند داسي وويل چي يا دا بوزه اويا طلاق ورکړه ما ورته وويل چي زما ګيڼي دي راکړي زه به دا ازاده کړم ګيڼي يې رانه کړي او وي ويل چي اوس ستا هيڅ تعلق پاته نه سو اويوه مولوي وويل چي طلاق واقع سو اوحال دادی چي ددي خبرو په وخت کي زما ښځه دلته نه وه اونه دی دا خبري اوريدلي دي نو په دي صورة کي طلاق واقع سو اوکه نه؟

جواب: دطلاق دواقع کيدولو دپاره دښځې مخامخ کيدل يا دطلاق اوريدل شرط نه دي خو په پوښتل سوي صورت کي ددي وجهي طلاق نه واقع کيږي چي سائل خپلي ښځي

---

(۱) الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب الکنايات ج۲ ص ۷۴۵. ط. س. ج ۳ ص ۳۰۷. ظفير
(۲) ايضا ج۲ ص۷۴۲. ط. س. ج ۳ ص ۳۰۸. ظفير

ته طلاق ورکړي نه دي بلکه دايي ويلی دي چي زما ګيڼې راکړه زه به دا ازاده کړم بيا نه هغوی ګيڼې ورکړي اونه ميړه طلاق نو په دي صورت کي طلاق واقع نه سو. ([1])

ويي ليکل چي دزوجيت څخه مي جلا کړي نو څه حکم دي؟ **سوال**: (۲۲۵) زيد خپلي ښځي هندي ته يو تحرير وليکی کله چي دا دخپل مور کره تللي وه او په هغه کي يي دا الفاظ ليکلي وه (في الحال ما ته دخپل زوجيت څخه وايستلی) خو چي کله په عدالت کي دزيد څخه پوښتنه وسوه نو زيد وويل چي ما طلاق نه دی ورکړی او دا کلمه مي دزورني لپاره ليکلي وه زما مقصود په دی کلماتو طلاق نه وو بلکه زورنه وه چي هنده سمدستی زما کورته راسي نو طلاق واقع سو اوکه نه؟

جواب: په درمختار کي دی: لست لك بزوج او لست لي بامراة الخ طلاق ان نواه ([2]) ددي څخه معلومه سوه چي په دي لفظ کي په نيت دطلاق طلاق واقع کيږي نو چي کله دميړه دطلاق نيت نه وو او دی دطلاق دنيت څخه منکر دی نو دده قول به معتبروي او طلاق به واقع نه وي.

ويي ليږه کني زه به جواب ورکړم په دي ويلوسره طلاق واقع سو اوکه نه؟ **سوال**: (۲۲۶) يو سړی په قسم سره وايي چي زه ناروغ وم زما ښځي زما خدمت ښه نه کوی او يو ځل ما داديوه پردي سړي سره په ناسته وليدله نو ددي وجهي هم زما په زړه کي ددي څخه کرکه پيدا سوه اوخپل وررورته مي وويل چي ته زما ښځه ددي دپلارکره وليږه کني زه به ددي ځای څخه ولاړسم اويا به خپلي ښځي ته جواب ورکړم دوه شاهدان سته چي دهغوی بيان مختلف دی ديوه شاهد له بيان څخه طلاق ثابتيږي او دبل دهغه څخه نه، نو په داسي حالت کي به دده پر ښځه طلاق واقع وي اوکه نه؟

جواب: کله چي ددواړو شاهدانو په بيان کي اختلاف دی نو ددي وجهي دميړه دانکار په صورت کي طلاق نه ثابتيږي (بل داچي وربه يي کړم وعده دطلاق ده په دي سره طلاق نه واقع کيږي. ظفير).

دوه طلاقه يي مخکي ورکړي وه څو کاله وروسته يي دريم طلاق ورکی اوويي ويل چي زما ستاسره هيڅ تعلق نسته نو څه حکم دي؟ **سوال**: (۲۲۷) يوه سړي خپلی ښځي ته يوطلاق ورکی دوه کاله وروسته يي بيا يوطلاق ورکړی بيا دری کاله وروسته په څه خبره

([1]) الفاظ الشرط إن وإذا وإذا ما الخ ففي هذه الالفاظ إذا وجد الشرط انحلت اليمين وانتهت لا تقتضي العموم ولا التكرار (عالمگيري مصري الطلاق بالشرط. ج۱ ص۴۱۵) بيا به يي درکړم وعده ده، وانا أطلق نفسي لم يقع لانه وعد (الدرالمختار على هامش ردالمحتار باب تفويض الطلاق ج۲ ص۲۵۷. ط. س. ج۳ ص۳۱۹). ظفير

([2]) الدرالمختار على هامش ردالمحتار باب الصريح ج۲ ص ۲۲۳. ط. س. ج۳ ص. ۲۸۲. ظفير

خوابدي سو او دزوروني په ډول يي وويل چي زما ستاسره هيڅ تعلق نسته اوزما دمخي اخواته سه خو نيت يي صرف بيرول وو نوپه دي صورت کي نکاح کول پکاردي اوکه نه؟

جواب: په دي صورت کي دحلالي ضرورت نسته که عده تيره سوی وي نو دوباره نکاح کولای سي (د بيرولو دلپاره چي يي کمه جمله دطلاق دنيته پرته ويلي ده په هغه سره طلاق واقع نه سو. ظفير)

بې له نيته يې په دردکی ويل زما کورته مه راځه زما سره تعلق قطع دی، نوڅه حکم دی؟

سوال: (۲۲۸) دزيد او دښځي په مينځ کي دجنجال په وجه ښځه دزيد داجازي پرته دپلار کره ولاړه زيد په دردکی خواښي ته وويل چي زما کورته اوس زما ښځه مه راوله او چي کم سامان ستاوي هغه راوغواړه زما سره تعلق قطع کړه، خو دزيد په زړه کي دا خيال هم نه وو چي په دي سره به ښځه طلاقه سي په دي صورت کي نکاح باقي ده اوکه ماته ده؟

جواب: په دي صورت کي دزيد دبيان موافق چي په دي صورت کي دطلاق نيت نه وو دده پر ښځی طلاق واقع نه سو په درمختارکي تصريح ده چي دا الفاظ چي پر قطع دتعلق دال دي که څه هم په حالت دغصي کي وي بې له نيت دطلاق څخه طلاق نه ورباندي واقع کيږي: وګوری درمختار دلاندينی عبارت همدا مطلب دی: وفی الغضب توقف الاولان ان نوي وقع والا لا.

وويل سوه که دی تردومره ورځو پوری خبر وانه خيستی نو بيابه ستا ښځه نه وی ميړه داخبره منظوره کړه نوڅه حکم دی؟ سوال: (۲۲۹) يوه سړي خپل اخنبي ته خط وليکی چي په هغه کي يي خپلي ښځي ته دری طلاقه ليکلي وه خو کله چي په دي اړه وپوښتل سو نوميړه دخط دليکلو څخه انکار وکی بيا خلګو دده څخه اقرار واخيستی چي که تردي ددي وروسته دانجلی خبر تر شپږو مياشتو پوري وانخيستی اوجامه يا ډوډی دي ورنه کړه نو شپږ مياشتي وروسته به داستا ښځه نه وي ده منظوره کړه خو اوس ترشپږو مياشتو دوی دری مياشتي واوښتي چي هيڅ خبر يې نه دی اخستی نو په دي صورت کي شرعا څه حکم دی؟

جواب: دخط څخه دانکار په صورت کي بې له دوو عادلانو شاهدانو طلاق نه ثابتيږي اودا الفاظ چي کم ميړه وروسته په طريقه دتعليق ويلي دي په دي کي دميړه دنيت اعتبار دی که ميړه په نيت دطلاق دا الفاظ ويلي وي نو دشرط په موجوديدو سره پر ښځی طلاق واقع کيږي که داسي نه وي نه واقع کيږي (۱).

(۱) فالکنايات لاتطلق بها الا بنية او دلالة الحال (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب الکنايات ج۲ ص۲۳۵. ط. س.ج۳ ص۲۹۲). ظفير

ښځي ته يي وويل ماته پريښودي نوڅه حکم دي؟ **سوال:** (۲۳۰) که ميړه خپلي ښځي ته دا وويل چي ماته پريښودي که دي خوښه وي اوسيږه او که دي خوښه وي ولاړه سه نو په دي صورت کي څه حکم دی؟

جواب: لفظ دپريښودو د(سرحتك او دفارقتك) ترجمه ده او دا په اصل کي کنايي ده چي نيت ته محتاجه ده خو په شامي کي دي چي په عرف دفارسي کي (رها کردم) صريح دی په طلاق کي نو دلته هم چي کله په هندي کي لفظ د(چهوړ ديا) پري مي ښودله په منزله دصريح دي نو په دي هم بي له نيته طلاق واقع کيږي (۱).

دطلاقه پرته دبل چا دښځي سره نکاح کول حرام دي اوپه عده کي نکاح کول حرام دي او په دي ويلو سره چي دښځي سره مي سروکار نسته بي له نيته طلاق نه واقع کيږي: **سوال:** (۲۳۱) دزيد نکاح دهندي سره وسوه څه موده وروسته يي اختلاف سو دزيد دهندي سره تعلق په دي ډول سو چي کله به يي التفات ورته کوی اوکله نه ددي څخه وروسته هندي خالد راوبللی او دهغه سره يي پټه نکاح وکړه دخلګو په ويلو خالد هنده دکور څخه وايستله او دهندي او دزيد په مينځ کي بيا دزوجيت تعلق پوره پوره جوړسو ددی څخه وروسته خالد زيد را وبلی او دده څخه يي داصلي حالت پوښتنه وکړه، زيد وويل چي ما خو تر اوسه هندي ته طلاق نه دی ورکړی خو يونيم دوه کاله کيږي چي زما ددي سره څه تعلق نسته اوس حالت دطلاق په څيردی که هنده زما مهر معاف کړی نو زه طلاق ورکولو ته چمتو يم چه په دي خبره سره خالد وويل چي ته طلاق ورکړه زه به مهر په معاف کړم زيد ددي واقعي څخه دوی دری ورځي وروسته طلاق ورکی دطلاق دورکولو څخه وروسته خالد هنده را وغوښتله او دعدي دانتظار پرته يي په کور کي وساتله ايا دخالد مخکی نکاح چي تر طلاق مخکي پټه سوي وه صحيح وه؟ او وروسته دطلاق څخه دعدي ضرورت نه وو خالد وايي چي دزيد په دي ويلو سره چي يونيم کال کيږي چي زما ورسره څه تعلق نسته يونيم کال مخکی طلاق واقع سو او زما مخکی نکاح په وجه دعدی تيريدو صحيح سوه اوزيدوايي چي زما په دی جمله کي دطلاق نيت نه وو نو

---

(۱) قوله سرحتك وهو رها كردم لانه صار صريحا فى العرف على ماصرح به نجم الزاهدي في شرح القدوري (ردالمحتار باب الكنايات ج۲ ص ۲۳۸. ط. س. ج۳ ص۲۹۹) مخکی چي په څومره سوالونو کي مفتی علام دا کنايي ګرځولی دي او دنيت شرط يي ورسره کړی دی نوپه اصل کي دا کتل په کار دي چي په هندوستان کي (چهوړ ديا، پريښودل) دطلاق په معنٰی کي صريح دي اوکه نه؟ نو چي په کمه علاقه کي دصريح په منزله کي وي هلته به بي له نيته طلاق واقع کيږي او چي په کم ځای کی نه وي هلته به بي له نيته طلاق نه واقع کيږي دا ضروري نه ده چي رها کردم په يوځای کی صريح سو نو په هندوستان کی دي چهوړديا صريح سی. ظفير

په دي صورت کي دزيد ويل صحيح دي اوکه نه؟ اوشرعا څه حکم دی؟
جواب: خالد چي کمه نکاح داول ميړه دطلاقه پرته کړی وه هغه حرامه اوباطله [1] ده او دطلاق څخه وروسته دعدی دتيريدو بغير نکاح نه سي کيدای اوطلاق هلته واقع سو چي کله اول ميړه يعني زيد طلاق ورکړي او دزيد په دي ويلو سره چي زما دهندی سره يو نيم دوه کاله کيږي چي تعلق نسته بي له نيته طلاق نه واقع کيږي [2].

زما او ددي څه تعلق نسته تاته يې درکوم تاته اختيار دی دايي وويل نوڅه حکم دی؟ سوال:
(۲۳۲) زيد سره دخپلي منکوحي ښځي دبکر خوني ته ولاړی او زيد دا الفاظ بکر ته دخپلی ښځي په باره کي وويل چي زه دا ستا خدمت ته درکوم تاته اختيار دی او زما ددي سره اوس هيڅ تعلق نسته او پرلپسي څو شپي يي داسي وکړي نو په داسي حالت کي شرعا دزيد پرښځی طلاق واقع سو او که نه؟ او داښځه دزيد دپاره جائز پاته ده اوکه نه؟ او بکر ددي سره نکاح کولی سي اوکه نه ؟
جواب: دا سړي يو بي حيا او بدکرداره سړی دی چي داسي خپله ښځه بل سړي ته سپاري دحرام کار دپاره خو په دي ويلو سره طلاق نه واقع کيږی او دزيد نکاح ددي سره قائمه ده او دبکر سره يي نکاح صحيح نه ده ترڅو چي زيد طلاق ورنکړي او عده يې تيره نه سي دبکر سره ددي نکاح حرامه ده.

دناروغي په حالت کی يی طلاق ورکی خوشمير ورته ياد نه دی نوڅه حکم دی؟ سوال:
(۲۳۳) يوه سړي دناروغي په حالت کي خپلي ښځي ته طلاق ورکی اوس داورته ياد نه دی چي ما څنګه طلاق ورکی. اوڅو ځله مي دطلاق لفظ ويلي دی نو په داسي حالت کي کم طلاق واقع سو؟ او دنکاح دنوي کولو ضرورت سته او که نه؟
جواب: په دي صورت طلاق واقع سو اوس به غالب ګمان ته اعتبار ورکوي نو که يي غالب ګمان داوي چي دری ځله يا زيات يي دطلاق لفظ ويلي دی نو بي له حلالي دي په نکاح کي نه راولي اوکه يي غالب ګمان ديوه يا ددوو وي اوعده يعني دری حيضه تير سوي وي نودوهم وار دي نکاح وکړي او حلالي ته ضرورت نسته هکذا في الشامی.

په بائن طلاق کی تجديد دنکاح ضروری دی او رضائيت ليک کافی نه دی: سوال: (۲۳۴) بائن طلاق دتجديد دنکاح پرته په راضي نامه زائل کيږي او که نه؟
جواب: په بائن طلاق کي تجديد دنکاح ضروري دی ، بغير دتجديد دنکاح څخه حرمت

---

[1] اما نکاح منکوحة الغير ومعتدته الخ فلم يقل احد بجوازه فلم ينعقد اصلا (ردالمحتار باب العدة ج۲ص ۸۳۵. ط. س. ج۳ ص۵۱۲). ظفير

[2] فالکنايات لا تطلق بها الا بالنية (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب الکنايات ج۲ ص۲۳۵). ظفير

ددواړو خواوو په رضائيت دمينځه نه ځي. ([1])

حرامه مې کړله، په دې ويلو سره که مراد طلاق وو نو واقع سوکه يې نه وو نو بياچې يې کله تحريري طلاق ورکی هغه واقع سو: **سوال**: (**۲۳۵**) يوي ښځې په ۱۹۱۲ کال دنومبر په ۱۸ په عدالت کي بيان ورکی چي زما ميړه نامرد دی او زما خسر زما سره هميشه بيديړی اوس زه دخپل خسر څخه حامله يم او ددي ښځي ميړه په يوه بله مقدمه کي په کال ۱۹۱۷ دجون په ۳۰ په يوه بل عدالت کي بيان ورکی چي ماخپله ښځه په کال ۱۹۱۲ دنومبر په ۱۸ په دي عدالت کي په بيان ورکولو سره پرځان حرامه وګڼله حال دادی چي په ۱۹۱۷ کال داپريل په **۱۵** باندي يي دې ته تحريري طلاق هم ورکړی دی او دحمل په ورځو کي يې دذکر سوي ښځي متعلق ددريو څلورو سړيانو په مخ کي حلفيه بيان ورکړی دی چي دا ښځه پرما حرامه ده دا وجوهات چي ما وکتل نوما ددي ښځي نکاح په ۱۲ داپريل ۱۹۱۷ کال کي دښځي او ددی دپلار په ويلو دبل سړي سره وتړله نو په دي صورت کي ذکر سوي ښځه په کم تاريخ طلاقه سوه او دا نکاح په عده کي وسوه اوکه وروسته ترعدی؟

جواب: که نيت دميړه په دي الفاظو سره چي ما خپله ښځه په کال ۱۹۱۲ دنومبر په ۱۸ پرخپل ځان حرامه کړي وه دطلاق وو نو طلاق په هغه وخت کي واقع سو ([2]) اوعده به هم دهغه وخت څخه شماروي، که ښځه حامله وه نو دهغي عده په وضع دحمل پوره سو او وروسته دوضعي دحمل څخه ددي دوهمه نکاح چي په ۱۲ داپريل ۱۹۱۷ کال کي وسوه هغه صحيح ده اوکه دميړه نيت په ذکر سوو الفاظو کی دطلاق نه وو نو چي کله ده په ۱۵ داپريل ۱۹۱۷ کال کي تحريري طلاق ورکی ددغه وخت څخه طلاقه سوه په دي صورت کي دوهمه نکاح په عده کي وسوه لهذا باطله ده.

ښځې ته يې وليکل تاته طلاق درکوم اوزما اوستا هيڅ تعلق نسته نو کم طلاق واقع سو: **سوال**: (**۲۳۶**) يوه سړی خپلي ښځي ته په خط کي وليکل چي دنن څخه زه تاته طلاق درکوم

([1]) اذا كان الطلاق بائنا دون الثلاث فله ان يتزوجها وبعد انقضائه (عالمگيرى مصرى باب الرجعة ج۱ ص۴۷۲). ظفير

([2]) ومن الالفاظ المستعملة الطلاق يلزمني والحرام يلزمني وعلى الطلاق وعلى الجرح فيقع بلانية للعرف (درمختار) اى فيكون صريحا لاكناية (رد المحتار باب صريح ج۲ ص۵۹۴. ط. س. ج۳ ص۲۵۲) فنحو اخرجي واذهبى الخ يحتمل ردا ونحو خلية وبرية حرام بائن ومرادفها الخ يصلح سبا (درمختار) وان كان الحرام في الاصل كناية يقع بها البائن الخ والحاصل ان المتاخرين خالفوا المتقدمين فى وقوع البائن بالحرام بلا نية حتٰى لايصدق اذا قال لم انو لاجل العرف الحادث فى زمان المتاخرين فيتوقف الآن وقوع البائن به على وجود العرف كما فى زمانهم الخ (رد المحتار باب الكنايات ج۲ ص ۷۳۵. ط. س. ج۳ ص ۲۹۹). ظفير

اوما ته ستا دکور او اولاد هیڅ پروا نسته؟ او زما ستا سره هیڅ تعلق نسته په دي صورت کي دده پرښځي رجعي طلاق واقع سو او که بائن؟

جواب: ددي خط موافق دده پرښځي دوه بائن طلاقه واقع سوه. اول صریح طلاق وو او بیا دکنایي په لفظ یعنی زما ستاسره هیڅ تعلق نسته، باندي بائن طلاق واقع سو او ددی امله چي اول دطلاق لفظ ذکر سوی دی په دي کي نیت ته ضرورت نسته. قال في الدرالمختار وفي مذاکرة الطلاق یتوقف الاول فقط ای بخلاف الاخرین بته وبتلة من الالفاظ الثاني لا الاول (۱).

چي کم ځای دي خوښه وي ولاړه سه ماته شکل راښکاره نه کړي په دي ویلوسره طلاق واقع سو او که نه؟ **سوال**: (۲۳۷) زید خپله ښځه ډیره زیاته ووهله او دکور څخه یي په دي ویلو سره وایستله چي کمي خواته دي خوښه وي ولاړه سه که دي خوښه وي نو دبنګالیانو کره ولاړه سه خوماته شکل مه راښکاره کوه نو په دي صورت کي طلاق واقع سو اوکه نه؟ اوښځه دوهمه نکاح کولای سي اوکه نه؟

(۲) دمیړه څخه پوښتنه وسوه نو ده جواب ورکی چي که ما ته ددي دبیولو ضرورت وای ما به دادومره موده دلته ولي پریښووله زما دي ته ضرورت نسته چي څه یي زړه غواړي ودی کړي زما دطرف څخه دپنځو کالو راهیسي طلاق دی نو اوس ددوهمي نکاح په اړوند څه حکم دی؟

جواب: په دي صورت کي که په ذکر سوو الفاظو سره دمیړه نیت دطلاق وو نو یوبائن طلاق په دي الفاظو سره واقع سو اودنیت کیدو اونه کیدو حال دی دمیړه څخه معلوم سی که په نیت دطلاق ده دا الفاظ ویلي وي نو اوس به هرومرو عده تیره سوي وي نو ددي وجهي دوهمه نکاح کول صحیح دي (۲).

(۲) په دي بیان سره په هغه وخت کي طلاق واقع کیږي چي کله ده دا وویل چي زما دطرف څخه خو دپنځو کلو راهیسي طلاق دی ځکه چي په داسي بیان سره هم دغه وخت طلاق واقع کیږي چي کم وخت داکلام وویل سي ددي څخه مخکی طلاق نه واقع کیږي ځکه چي په تیره سوي زمانه کي طلاق ورکول دده اختیارنه دی نو دمیړه ددي کلام څخه وروسته چي کله عده تیره سی یعني دری حیضه ددي ښځي وسي نو دغه وخت به دوهمه نکاح صحیح وي.

(۱) الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب الکنایات ج۲ ص۶۴۰. ط. س. ج ۳ ص ۲۹۲. ظفیر

(۲) فالکنایات لا یقع بها الا بالنیة (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب الکنایات ج۲ ص۶۳۵) والقول قول الزوج في ترك النیة مع الیمین (عالمگیري مصري کنایات ج۱ ص۳۷۵). ظفیر

په درد کی یی وویل یو دوه دری ته زما مور خور یی اولفظ دطلاق یی ونه ویلی نوڅه حکم دی؟ **سوال**: (۲۳۸) یوه سړي ددرد په حالت کي خپلي ښځي ته وویل یو دوه دری څه ته زما مور خور یي دطلاق دذکر او یادوني پرته نو په دي صورت کي کم طلاق واقع سو؟

جواب: دطلاق دلفظ او مذاکري پرته طلاق په لفظ دیو دوه دری زما مور خور یی سره نه واقع کیږي، اوپه لفظ دزما مور خور یي سره دتشبیه له حرفه پرته طلاق نه واقع کیږي: وفي الدرالمختار وان لم ینو او حذف الکاف لغا الخ (۱) اولفظ دڅه داکنایي دی که یي په نیت دطلاق ویلی وي طلاق واقع سو کني نه دی واقع سوی (۲).

ته پرما حرامه یي په دي ویلو سره څو طلاقه وسوه اوچي څوځله یي ووایي نوڅه حکم دی؟

سوال: (۲۳۹) زید په حالت دمذاکري کي او په دلالة الحال سره دخپلي منکوحي ښځي سره په جګړه کي وویل چي ته په ما حرامه یي نو په څو ځله ویلو سره ثلاثه کیږي په دوه ځله یا زیات حرام ویلو سره کم طلاق واقع کیږي؟

جواب: په مذاکره دطلاق کي په لفظ دحرام ویلوسره یو بائن طلاق واقع کیږي (۳) او په څو ځله حرام ویلوسره به هم یوځل بائن طلاق واقع کیږي ځکه چي دبائن څخه وروسته بل بائن طلاق نه واقع کیږي: کمافي الدرالمختار لا یلحق البائن البائن: الخ (۴).

دمیره دا جمله ویل چي څنګه مو راوستلي وو هغسي مو وباسئ کنایي طلاق نه دی: **سوال**: (۲۴۰) یوه سړي ته دده خسر په درد کي وویل چي ته زموږ کره مه راځه ګیني راوړه اوخپله ښځه دي کورته بوځه ده وویل چي څنګه مو راوستلي وه هغسي مو وباسی نو داکنایي دطلاق ده اوکه نه؟ اوبیا په درد کي راغی او ویي ویل ما طلاق ورکی نو په دي صورت کي کم طلاق واقع سو؟

جواب: دا الفاظ دمیره چي څنګه مو راوستلي وه هغسي مو وباسی دا کنایي دطلاق څخه نه ده او بیایي چي په درد کي وویل ما طلاق ورکی نو په دي سره یو رجعي طلاق واقع سو.

طلاق به درکړم په دي ویلوسره طلاق نه واقع کیږي؟ **سوال**: (۲۴۱) زید پرخپلي ښځی هندی باندي دبي اتفاقي په سبب سخت ظلم وکی او دکور څخه یي وایستله اوویي ویل

---

(۱) الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب الظهار ج۲ ص۷۹۴ ط. س. ج۳ ص۴۷۰. ظفیر

(۲) ولو قال لها اذهبي ای طریق شئت لایقع بدون النیة (عالمگیري مصری باب الکنایات ج۱ ص۳۷۲). ظفیر

(۳) وان کان الحرام في الاصل کنایة یقع بها البائن الخ والحاصل ان المتاخرین خالفوا المتقدمین في وقوع البائن بالحرام بالنیة (ردالمحتار باب الکنایات ج۲ ص۲۳۸. ط. س. ج۳ ص۲۹۹). ظفیر

(۴) الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب الکنایات ج۲ ص ۶۴۲. ط. س. ج۳ ص۳۰۸. ظفیر

چي زه به تاته ضرور طلاق درکړم زه دا ټول عمر نه سم ساتلای هنده دخپل ورور کور ته ولاړه دري څلور ورځي وروسته زيد ته دده ميري مور رد اوبد وويل چي زه او ستا پلار به هنده خامخا را وغواړو اوپه کور کي به يي ساتو اوکه تا طلاق ورکړی نو دفلانی فلانی په شان چي هغوی ښځو ته طلاق ورکړي وو ټول عمر به بي ښځي تيروي او تاته به څوك ښځه نه درکوي نو زيد وويل چي ماهنده پرينښووله اوزه ټول عمر دانه سم ساتلای زه به ټول عمر ښځه نه کوم نو په دي صورت کي پرهندی کم طلاق وا قع سو؟

جواب: اقول وبه نستعين دمذاکري دطلاق تفسير فقهآء داسي کوي چي ښځه طلاق وغواړي اوپه پوښتل سوي صورت کي دښځي دلوري دطلاق غوښتنه نسته او دميړه داقول چي زه به تاته طلاق درکړم دفقهاوو دتفسير مطابق مذاکره دطلاق نه ده ځکه چي داستقبال په لفظ سره طلاق نه واقع کيږي بلکه لغوه کيږي (١) نو ظاهره داده چي دزيد داقول چي ماهنده پرينښوده ټول عمر يي نه سم ساتلای دا کنايي طلاق دی چي نيت ته محتاج دی: لعدم مذاکرة الطلاق بالتفسير المذکور قال في الشامي وعلی هذا التفسير المذاکرة بسوال الطلاق اوتقديم الايقاع کما في اعتدي ثلثا وقال قبله المذاکرة ان تسئله هي اواجنبی الطلاق (٢) الخ اودتقديم الايقاع دلفظ څخه څه شبهه کول نه ښايي ځکه هغه يواځي د(اعتدي او داسي نور) الفاظ دي چي په اول کي يي ايقاع دطلاق مقدما مقدره وي نه په طلقتك او داسي نورو کي لنډه دا چي په خپله دسړي دخوا ذکر دطلاق په صيغه دوعدي کولو اوبيا کنايي لفظ ويل مفيد دمذاکري دطلاق نه دي ترڅو دامذاکره دطلاق وګڼل سي اوپه لفظ دکنايي کی دطلاق دنيته پرته حکم دوقوع دطلاق وسي، وهذا ما ظهر لي. فقط

مخکی يی وويل حرام بيايی وويل طلاق نوڅه حکم دی؟ سوال: (٢۴٢) دهندي نکاح دزيد سره په غرض دحلالي وسوه وطی هم وسوی صبا بکر زيد ته وويل چي طلاق ورکړه زيد انکار وکی چي اوس زما طلاق ورکول زړه نه غواړي اخر دبکر دبيري مجبوره سو نوزيد وويل ښځه حرامه، بکر وويل چي داسي نه بلکه دری طلاقه ووايه نو زيد ددي لفظ دويلو څخه انکار وکی بکر بيا مجبوره کړی نوزيد دبکر څخه دخلاصون موندلو دپاره صرف يوځل دچا دنوم داخيستلو څخه پرته وويل چي: ښه صيب طلاق، زيد دهندي نوم وانه خيستي او نه هنده دلته موجوده وه ددي معاملي څخه يوه نيمه مياشت وروسته

(١) ولو قال بالعربية اطلق لا يکون طلاقا الا اذا غلب استعماله للحال فيکون طلاقا (عالمګيري مصري کنايات ج١ ص ٣٨۴). ظفير
(٢) ردالمحتار کتاب الطلاق باب الکنايات ج٢ ص٢٣٧. ط. س. ج٣ ص٢٩٧. ظفير

زيد ذكر سوي هندي ته رجوع وكړه اوپه خپله رضاء يي ورسره وطی وكړه او اوس بكر هنده دزيد مطلقه وګڼله په بل ځاى كي دنكاح كولو اجازت يي وركړى په دي صورت كي هنده بل ځاى نكاح كولاى سي او كه نه؟

جواب: چي كله زيد لفظ دحرام وويلی او وروسته يي ښه ده طلاق وويلی نو دا منكوحه ښځه مطلقه بائنه سوه ځكه چي بكر دي ته دطلاق وركولو وويل، نو ديته داضافت قرينه موجوده ده او چي دامطلقه بائنه سوه نو دزيد سره ددي وطی كول حرام دي حاصل دا چي هنده وروسته دعدی څخه دبل سړي سره نكاح كولاى سي په شامي كي دي: ويويده ما في البحر لو قال امرأة طالق او قال طلقت امرأة ثلاثا وقال لم اعن امرأتي يصدق اهـ ويفهم منه انه لو لم يقل ذلك تطلق إمرأته لان العادة ان من له امرأة انما يحلف بطلاقها لا بطلاق غيرها فقوله اني حلفت بالطلاق ينصرف اليها ما لم يرد غيرها الخ ([1]) وسيذكر قريبا ان من الالفاظ المستعملة الطلاق يلزمني، وعلى الطلاق، وعلى الحرام، فيقع بلا نية للعرف الخ. فقط

چيري چي ځي ولاړه سه زما ضرورت نسته درته، ددي ويلو څه حكم دي؟ سوال: (۲۴۳) يوه سړي خپلي ښځي ته وويل چيري چي ځي هلته ولاړه سه زما ضرورت نسته درته په دی الفاظو سره طلاق واقع كيږي اوكه نه ؟

جواب: په داسي الفاظو كي دنيت اعتبار دی كه ده دالفظ په نيت دطلاق ويلي وي نو بائن طلاق دده پرښځی واقع سو دده څخه پوښتنه كول په كاردي چي دطلاق په نيت يي ويلی دی اوكه په بل نيت. ([2])

زما هيڅ قسم تعلق نسته يی وليكل نوڅه حكم دي؟ سوال: (۲۴۴) دزيد منكوحه دده داجازي پرته دمور او پلار كره ولاړه چي دهغه يوكال وسو زيد ددي دتللو څخه دوی مياشتي وروسته يو خط چي ته زما داجازي پرته دخپل مور اوپلار كره تللي يي ددي وجهي زما ستاسره هيڅ قسم تعلق پاته نه سو اوته هم ددغي ورځي څخه زما دنكاح څخه وتلي يي طلاق درته ليكم؟

جواب: په درمختار كي دي: لست لك بزوج او لست لي بامرأة اوقال له لست لي بزوج فقال صدقت طلاق ان نواه ([3]) وفي الشامي واشاربقوله طلاق الی ان الواقع بهذه الكناية

([1]) ردالمحتار باب الصريح ج۲ ص۵۹۱. ط. س. ج۳ ص۲۴۸. ظفير

([2]) ردالمحتار باب الصريح ج۲ ص ۵۹۱. ط. س. ج ۳ ص ۸ ۲۴. ظفير

([3]) اذهبي الی جهنم يقع ان نوی وكذا اذهبي عني (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب الكنايات ج۲ ص۲۴۲، ط. س. ج۳ ص۲۸۲). ظفير

رجعي كذا في البحر (١) ددي عبارت څخه واضحه سوه چي كه په دي صورت كي نيت دطلاق وي نو طلاق واقع سو او وروسته دعدي څخه ښځه بله نكاح كولاى سي.

پرېښي مي ده كه يي دښځي متعلق داسي ويلي وي نوڅه حكم لري؟ سوال: (۲۴۵) يوه سړي خپله ښځه په داسي حالت كي پرېښي ده چي دزوجيت حقوق يي نه ادا كوي او چي هر ځاى اوسيږي څه پروايي نه لري دبلي ښځي سره يي نكاح كړي ده دطلاق په اړه چي ده ته وويل سي نو دي وايي چي دطلاق په صريح لفظ يي نه طلاقوم خو زما زړه دانه غواړي زما دلوري هيڅ بند نسته كه چيري نكاح وكړي هم ما دا پرېښي ده او دويمه نكاح صحيح كړي ده نو په دي صورت كي ددي ښځي نكاح جائزه ده اوكه نه؟

جواب: په ما دا پرېښي ده سره كه دميړه دطلاق نيت وي نو دده ښځه مطلقه بائنه سوه كه څه هم صريح لفظ دطلاق يي نه وي ويلي خوكه يي دطلاق په نيت دالفظ چي ده ويلى وي هم طلاق واقع كيږي اوپه صورت دمذاكري دطلاق كي خو قضاءً بي له نيته هم حكم دطلاق كيږي په هرحال دميړه څخه دي معلومه كړل سي كه ده په نيت دطلاق لفظ دپرېښودو ويلي وو، نو دده ښځه مطلقه بائنه سوه او دعدت څخه وروسته يې دوهمه نكاح جائز ده. (٢)

فارغنامه مي ليكلي ده زما دپاره حرامه ده، دايې وليكل نوڅه حكم دي؟ سوال: (۲۴۶) يوه سړي خپل زوم ته وليكل چي ته زما دلور پوره خرڅه نه سي ادا كولاى اوتا دا په خپل كوركي پرېښوده اوستا قريبانو دا دخپل كور څخه وايستله نوچي كله ستا سره دنفقې وس نسته چي ورېي كړي، نودا خلاصه كړه، ددې جواب زوم خپلي ښځي ته دا وليكى چي اي ښځي ستا دپلار دخط څخه معلوميږي چي ته فارغنامه غواړي نوما لا له وړاندي فارغنامه ليكلي ده ته زما دپاره حرامه يې زه ډير خوشحاله يم اوته زما په كار نه يې، نوپه دې صورت كي طلاق واقع سو اوكه نه؟

جواب: په دې صورت كي دده پر ښځه بائن طلاق واقع سو.

لاندېني اشعار يې ښځي ته وليكل، نوپه هغو سره طلاق واقع سو اوكه نه؟ سوال: (۲۴۷) يوه سړي خپلي ښځي ته چي دكشري خور كره تللي وه په لاندېنيو اشعارو خط وليكى او ورويې ليږي: (دشعرونو ژباړه)

---

(١) ردالمحتار باب الصريح ج۲ ص۲۲۳. ط. س. ج۳ ص۲۸۳. ظفير

(٢) واذا بهشتم ترا فان كان في حالة غضب ومذاكرة الطلاق فواحدة يملك الرجعة وان نوى بائنا او ثلاثا فهو كما نوى (عالمگيري مصري باب الكنايات ج١ ص۳۷۹) سرحتك او فارقتك الخ يقع بباقيها البائن ان نواها (الدرالمختار على هامش ردالمحتار باب الكنايات ج۲ ص۲۴۱، ط. س. ج۳ ص۳۰۰ - ۳۰۳). ظفير

پرې نه ږدي هلته پرده هیڅکله دالطاف څخه
لکه چې بې پردې وي څو ورځې دممتاز څخه

که دې ددې خــــلاف عمـــــل وکی او یادي کړی وي
نو زما او ستا په مینځ کې دزوجیت رشته به ختمه وي

ددې شعر دترلاسه کولو څخه مخکې ښځې دمیان الطاف څخه چې ددې اخښی وو پرده ماته کړې وه او دطلاق څخه وروسته هم بې پردې ماته سوه، نوپه دې صورت کې بائن طلاق واقع سو اوکه نه؟ او دمیړه وینا ده چې دده دطلاق ورکولو نیت نه وو.

جواب: چې دمیړه دطلاق ورکولو نیت نه وو نو په دې صورت کې طلاق واقع نه سو ځکه چې دا کنایي لفظ نه دی.

ولاړه سه زما دکار څخه، ددې الفاظو څه حکم دی؟ **سوال**: (۲۴۸) ښځه او میړه به دتل دپاره جنګېدل په دې صورت کې ډېر ځله سړی دښځې په وړاندې دا وویل چې ته زموږ دکار څخه یې چې کمه خوا ته دې خوښه وي ولاړه سه زموږ هیڅ غرض نسته، نو دا ښځه مجبوره سوه او دخپل مور او پلار کره ولاړه چې اته کاله یې وسوه ترنن ورځې پورې یې میړه هیڅ پروا نه ده کړې نو په دې صورت کې داښځه بل ځای نکاح کولای سې اوکه نه؟

جواب: که دمیړه په دی الفاظو سره دطلاق نیت وي نو یوبائن طلاق دده په نکاح واقع سو اوس چې ظاهراً عده تیره سوی ده نو دوهمه نکاح کولای سي خوکه دمیړه نیت دطلاق نه وو نوطلاق نه واقع کیږي او یا دویمه نکاح هم نه ده صحیح دمیړه څخه دې پوښتنه وسی چې دده نیت څه وو.

ته زما څخه جلا سه ستا ضرورت نسته دایي وویل نوڅه حکم دی؟ **سوال**: (۲۴۹) زید خپلې ښځې ته څوځله وویل چې ته زما څخه جدایي او نه زما تاته څه ضرورت سته او میړه دنهو میاشتو څخه نامعلوم دی نو په دې کې ښځه دویمه نکاح کولای سی اوکه نه؟

جواب: دا کلمات دصریح طلاق دي په دی کلماتو کې طلاق دمیړه په نیت سره واقع کیږي اوچې کله میړه دنیت حال نه سي معلومیدای نوپر دي به هیڅ حکم نه کیږي او طلاق به ثابت وي او دویمه نکاح دښځې صحیح نه ده (۱).

زما دکور څخه ووزه داجمله یې ښځې ته ولیکله نوڅه حکم دی؟ **سوال**: (۲۵۰) یو مسلمان سړی چې په بصره کې دانګریزي فوج ملازم دی دي سړي په جنګ کې کورته خط ولیږی ښځې ته یې ولیکل چې ته زما دکور څخه ووزه زما اوستا هیڅ تعلق نسته ته زموږ څخه

---

(۱) فالکنایات لاتطلق بها الا ما بنیة او دلالة الحال (الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب الکنایات ج۲ ص۲۳۵. ط. س. ج۳ ص۲۹۲). ظفیر

مړه يي او موږ ستا څخه ماړه يو ددي لفظ څخه ماسوا بل څه ذكر دطلاق وغيره يي نه دي كړي نو دا ليك يو مولوي دطلاق تصور كي او ددي ښځي نكاح يي ديو بل سړي سره وكړه نو آيا په دي الفاظو سره طلاق واقع كيږي اوكه نه؟ كه نه كيږي نو دنكاح كوونكي او دنكاح تړونكي څه حكم دى؟

جواب: دا الفاظ چي كم ميړه ښځي ته ليكلي دي نو هغه كه يي دطلاق په نيت ليكلي وي نو يو بائن طلاق يي پر ښځى واقع سو [1] دعدى ددريو حيضونو وروسته دويمه نكاح ددي ښځي صحيح ده او كه يي نيت دطلاق نه وي نو طلاق واقع نه سو او دنيت حال ددي دميړه څخه په پوښتنه معلوميداى سي دحال دتحقيق او دنيت دمعلوميدو پرته دميړه څخه دطلاق حكم لګول صحيح نه دى دطلاق حكم لګوونكي اونكاح تړونكي ګنهګار دى تحقيق دي وكړي او دميړه څخه دي پوښتنه وكړي چي دده نيت څه وو.

<u>اوس ته زما دكار نه يى ووزه دايى وويل نو طلاق واقع سو اوكه نه؟</u> سوال: (**۷۵۱**) يوه سړي خپلي ښځي ته وويل ته اوس زما دكار نه يي پاته زما دكور څخه ووزه او دكور څخه يي وايستله نو اوس نكاح قائمه ده اوكه طلاق واقع سو؟

جواب: دا الفاظ چي دي سړي خپلي ښځي ته ويلى دي نو صريح طلاق نه دى اوكنايي الفاظ دي نوكه يي دطلاق په نيت دا الفاظ ويلي وي نو طلاق واقع دى كنې نه دي واقع نو دميړه څخه دي پوښتنه وسي چي دده په دي الفاظو سره څه نيت وو كه په نيت دطلاق يي ويلي وي نو بائن طلاق دده پرښځه واقع سو [2].

<u>ښځى ته يى وويل پرى مى ښوولي نو طلاق واقع سو اوكه نه؟</u> سوال: (**۷۵۲**) يوه سړي خپلي ښځي ته وويل چي ته مي پري ښوولى نوآيا طلاق واقع سو؟

جواب: لفظ دپريښودو كنايي ده كه په نيت دطلاق يي دا لفظ ويلى وي نو بائن طلاق واقع سو اوكه په نيت دطلاق يي نه وي ويلى نو طلاق واقع نه دي دنيت دكيدو يا دنه كيدو په اړه دميړه قول معتبر دى سره له يمينه: قال في الدرالمختار والقول بيمينه في عدم النية [3] او په مذاكره دطلاق كي كه ميړه ذكر سوى لفظ ښځي ته ويلى وي نو بائن

(1) فالكنايات لا تطلق بها اى بالكنايات الا بنية (الدرالمختار على هامش ردالمحتار باب الكنايات ج۲ ص۷۳۵ ط. س. ج۳ ص ۲۹۷). ظفير

(2) فالكنايات لا تطلق الا بنية فنحو اخرجي واذهبي وقومي (الدرالمختار على هامش ردالمحتار باب الكنايات ج۲ ص۷۳۵. ط. س. ج۳ ص۲۹۷). ظفير

(3) الدر المختار على هامش ردالمحتار باب الكنايات ج۲ ص۷۴۵، والقول قول الزوج في ترك النية مع اليمين (عالمګيري مصري باب الكنايات ج۱ ص ۳۷۵). ظفير

طلاق به واقع وي ځکه چي مذاکره دطلاق هم په دي لفظ کي قائم مقام دنيت دی.

ويې ويل چې ته دچا سره نکاح وکړه نوڅه حکم دی؟ **سوال:** (۲۵۳) يوه سړي ددرد په حالت کي ښه صفا ښځي ته وويل چي زه په دي خبره خوشحاله يم چي ته زما په مخکی دبل سړي سره نکاح وکړی نو په دي صورت کي بائن طلاق وسو اوکه رجعي؟ اوکه دا اوس هم دده ښځه ده؟

جواب: داکنايي الفاظ دي که دميړه په نيت کي طلاق وي نو يوبائن طلاق واقع سو اوکه په نيت کي يې طلاق نه وي نو بيا طلاق واقع نه سو: کمافي الشامي عن الذخيرة اذهبی وتزوجي لايقع الا بالنية وان نوی فهی واحدة بائنة الخ (۱) اوصاحب ددرمختار چي دا نقل کړي دی: اذهبی وتزوجی تقع واحدة بلا نية، نوعلامه (۲) شامي فرمايي چي داخلاف دی دقاضي خان دتصحيح څخه او بيايې دذخيري څخه تاکيد ورباندي راوړی دی.

وي ويل ته زما ښځه نه يې نوڅه حکم دی؟ **سوال:** (۲۵۴) يوه سړي خپلي ښځي ته وويل چي ته زما ښځه نه يي دزوی ښځه يي اوستا څخه چي کم حمل دی نو دازما دزوی دی په دی ويلوسره ښځه طلاقه سوه اوکه نه؟

جواب: په دي ويلو سره دده پرښځی طلاق واقع نه سو اوښځه دده دنکاح څخه بهرنه سوه. (۳)

څه ووزه طلاق مي درکی، په دی ويلو سره بائن طلاق واقع سو: **سوال:** (۲۵۵) کريم خپله ښځه ووهله او ورته وي ويل چي څه ووزه ماتاته طلاق درکړی ددي څخه وروسته کريم خپلي ښځي ته خط ور وليږی چي ماتاته طلاق نه دی درکړی نو په دی صورت کی دکريم ښځه طلاقه سوه اوکه نه؟

جواب: که واقعًا کريم دا ويلي وی چي څه ووزه ماتاته طلاق درکی نويو بائن طلاق دده پرښځی په دغه وخت کي واقع سو خوکه ميړ ه ددي څخه منکر وي او دطلاق څوك شاهد نه وي اوښځي ته داواقعه معلومه وي نو که څه هم قاضي به په دي صورت کي دطلاق حکم نه کوي خو دښځي دپاره حکم دجدايي ثابت دی يعني ښځي ته حلال نه دي چي ددي سړي سره پاته سی په مجبوري کي دا معذوره ده (۴) اونور الفاظ چي کم کريم

---

(۱) ردالمحتار للشامی قبيل باب تفويض الطلاق ج۲ ص۲۵۲. ط. س. ج۳ ص۳۱۴. ظفير

(۲) الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب الکنايات مبحث تفويض الطلاق ج۲ ص۲۵۲، ط. س. ج۳ ص۲۹۲. ظفير

(۳) ولو قال ما انت لی بامراة او لست لك بزوج ونوی الطلاق يقع عند ابي حنيفة وعندهما لايقع (عالمگيري مصري ج۱ ص۳۱۵). ظفير

(۴) والمرأة القاضي اذا سمعته او اخبرها عدل لايحل تمکينه الخ وفي البزازيه عن الاوزجندي انها ترفع الامر للقا ضي فان حلف ولا بينة لها فلا اثم عليه قلت ای اذا لم تقدر علی الفداء اوالهرب ولا علی انها ترفع الامر =

دجرګي ولي مخکي ويلي دی دا کنايي الفاظ دي که مخکی صريح لفظ ثابت نه وي نو په دي الفاظوکي دنيت ضرورت دي که نيت دطلاق وي نو طلاق به واقع وي کنې نه.

زه تا پريږدم اوځم، دا جمله يی وويل نوځه حکم دی؟ سوال: (۷۵۶) يوه سړی خپلي ښځي ته وويل زه تا پريږدم اوځم ته او داکالی به دهميشه دلپاره زما څخه خلاص سی او دايي هم وويل چي تاته به طلاق درکړم او ولاړ به سم نو طلاق واقع سو اوکه نه؟

جواب: په دي صورت کي يو بائن طلاق واقع سو ځکه چي دالفظ کنايي دي او ددلالت حال په وجه به بائن طلاق واقع سي: ولاتطلق بها الا بالنية او بدلالة الحال كذا فى الدر المختار (۱) وافاد الشامي تحته فتفسير المذاكرة بسوال الطلاق الخ. اودرى طلاقه به نه وي واقع اګر چي نيت يي هم وي: ولا يلحق البائن البائن الخ درمختار (۲).

درى ځله يی پريښوول: سوال: (۷۵۷) يوه سړي خپلي ښځي ته په يوځل دا وويل چی پری مي ښوولي نو په دي صورت کي دحلالی ضرورت سته او که نه؟

جواب: که ميړه دالفظ په نيت دطلاق ويلی وي نو دده ښځی يو بائن طلاق واقع سو او جديده نکاح بي له حلالي صحيح ده (۳).

انت لی حرام يی وويل نوځه حکم دی؟ سوال: (۷۵۸) زيد خپلي ښځي ته په حالت دجنګ کي وويل انت لي حرام نو په دي لفظ طلاق واقع سو اوکه نه؟

جواب: قال في الشامی فی لفظ حرام وسياتي وقوع البائن به بلا نية وزماننا للتعارف (۴)، نوپه هرځای کي چي په لفظ دحرام وقوع دطلاق بائن بي له نيته مشهوره ګرځيدلی وي نو په قول دزيد (انت لي حرام) بائن طلاق واقع وي.

فلانی پرما حرامه ده زه به دا خرڅه کړم په دي ويلوسره کم طلاق واقع سو؟ سوال: (۷۵۹) يوه سړي غائبانه ددوو عاقلانو حرينو بالغانو دخپلولی نوم واخستی او وی ويل بائن طلاق واقع سو اوکه رجعي؟

جواب: په دي صورت کي به بائن طلاق واقع سي که په نيت دطلاق يي ويلی وي اوکه په کم ځای کي داعرف وي چي دلفظ دحرام څخه طلاق اخيستل کيږي يعني پرمنزله دصريح

= للقاضي فان حلف ولا نية لها فلاثم عليه قلت اى اذا تقدر على الفداء او الهرب ولا على منعه عنها فلا ينافي ماقبله (ردالمحتار باب الصريح ج۲ ص۴۹۵ ط. س. ج۳ ص۲۵۱). ظفير

(۱) الدرالمختار على هامش ردالمحتار باب الكنايات ج۲ ص۷۳۵. ط. س. ج۳ ص۲۹۷. ظفير

(۲) ايضا ج۲ ص۷۴۲. ط. س. ج۳ ص۳۰۸. ظفير

(۳) فالكنايات لا تطلق بها الا بنية فنحو اخرجي واذهبى الخ سرحتك وفارقتك (الدر المختار باب الكنايات ج۲ ص۷۳۵. ط. س. ج۳ ص۲۹۷). ظفير

(۴) ردالمحتار باب الكنايات ج۲ ص ۷۳۸. ط. س. ج۳ ص ۲۹۸. ظفير

طلاق وي نوپه دی صورت کي درمختار فرمايي چي بي له نيت څخه به طلاق واقع وي: قال في الدرالمختار قال لامرأته انت عليّ حرام الى ان قال يفتى بانه طلاق بائن وان لم ينوه لغلبة العرف الخ قال الشامي قوله وان لم ينوه قلت الظاهر انه اذا لم ينو شيئا اصلا يقع ديانة ايضا وفيه ايضا قوله لغلبة العرف اما كونه بائنا فلانه مقتضي لفظ الحرام لان الرجعى لا يحرم الزوجة ما دامت في العدة وانما يصح وصفها بالحرام بالبائن (۱) فقط والله تعالى اعلم.

ويی ويل چی ته اوستا کار پوه سه نو څه حکم دی؟ **سوال:** (۲۲۰) دزيد ښځه دده دسختي دوجهي دده په اجازت دمور اوپلار کره ولاړه اوپه پنځلسو ورځو کي يي دبيرته راتلو وعده هم وکړه خو بيرته رانغله زيد دوه خطونه وليکل ددي ورور ته يي وليکل چي ددي خط په کتو سره دا را ورسوه چي څنګه هم ممکن وي خدای دي نه کړي که دي راونه رسوله نو واضحه دی وي چي زما او ستا دخور به هيڅ تعلق نه وي بياته پوه سه او ستا کار او دويم خط يي دښځي په نوم وليکی چي که ته ترفلانی ورځي پوري دخپل ورور سره راغلي خو ډيره ښه کنې ته پوه سه او ستا کار نوښځه په دغه مقرره ورځ رانغله نو طلاق واقع سو اوکه نه؟

جواب: دا الفاظ چي ته پوه سه اوستا کار داکنايي الفاظ دي چي په ظاهره دحلية او دبرية په معنى سره دي نوکه دخاوند نيت په دي الفاظو سره دطلاق وو نو يو بائن طلاق پرهندی واقع سو (۲) کنې نه.

ښځی ته يی وويل ولاړه سه ووزه: **سوال:** (۲۲۱) که يو سړي ښځي ته په درد کي ووايي چي ولاړه سه ووزه نو په دي ويلو سره طلاق واقع کيږي اوکه نه؟

جواب: خپلي ښځي ته په ولاړه سه ووزه ويلو سره که نيت دطلاق وي نو طلاق واقع کيږي کنې نه واقع کيږي (۳).

ستا سره مي هيڅ تعلق نسته اوځه سره دطلاقه: **سوال:** (۲۲۲) يو سړي خپلي ښځي ته وويل چي ستاسره زما هيڅ تعلق نسته اوځه زما دطرف څخه دموچيانو او دچوړيانو کره ځه زه تانه غواړم نو په دي الفاظو سره طلاق واقع سو اوکه نه؟

---

(۱) وګوری: ردالمحتار باب الايلاء ج۲ ص۷۷۵ – ۷۷۲. ط. س، ج ۳ ص ۴۳۳. ظفير

(۲) فالكنايات لا تطلق الا بنية او دلالة الحال (الى قوله) نحو خلية برية (الدرالمختار على هامش ردالمحتار باب الكنايات ج۲ ص۷۳۵. ط. س. ج۳ ص۲۹۲). ظفير

(۳) فالكنايات لا تطلق بها قضاء الا بنية او دلالة الحال الى قوله فنحو اخرجى واذهبى الخ (درمختار باب الكنايات. ط. س. ج۳ ص۲۹۲). ظفير

جواب: په دي الفاظو سره پرنيت طلاق کيږي نوکه دميږه نيت دطلاقو وو نوطلاق وسو دده څخه دي پوښتنه وسي ([1]).

زما اوستا هيڅ تعلق نسته يی وويل: **سوال**: (۲۲۳) دفاطمی سره دعز الدين نکاح وسوه دزوجيت دحق نه ادا کولو په وجه ذکر سوي انجلی دا الفاظ وويل چي ته پرما حرامه يي زه تا پلار ګڼم اوزه ستا لور يم بلکه ښځي تر طلاق پوري وويل او ميږه وويل چي کم ځای ستا خوښه وي نو ولاړه سه زما اوستا هيڅ تعلق نسته او انجلی ته يي دطلاق اختيار ورکی نو چي څنګه جګړه وسوه سمدستي يي طلاق واخيستی نو څه حکم دی؟

جواب: دښځي په دي ويلو سره په نکاح کي هيڅ فرق نه راځي ځکه چي دطلاق اختيار ميږه ته دي ښځي ته نه دی ښځه که دا ووايي چي ته پرما باندي حرام يي ته زما پلار او زه ستا لور نو په داسي الفاظو يا صريح طلاق ويلو سره طلاق يا نور هيڅ شی هم نه واقع کيږي خو چي ميږه دا الفاظ ويلي دي چي زما اوستا هيڅ تعلق نسته چي کم ځای دي خوښه وي نو ولاړه سه که په دي الفاظو سره دميږه نيت دطلاق وي نو يو بائن طلاق دده پرښځه واقع سو ([2]) خو دا الفاظ چي ميږه ويلي دي دا الفاظ داسي نه دي چي په هغو سره دي ښځي ته اختيار حاصل سي.

دا ويل چي زما پردي دزوجيت دعوه نسته: **سوال**: (۲۲۴) يوه سړي دخپلي ښځي ورور ته خط وليکی اوپه هغه کي يي وليکل چي تاته دخپلي خور يعني زما دښځي اختيار دي چي دادی کم ځای زړه غواړي نو کښېږي نوه زه دهغه دزوجيت هيڅ دعوه نه لرم دا خط يي ولوستی دي سړي دعدی تيريدو څخه وروسته بل ځای په نکاح کړه نو دا نکاح صحيح ده اوکه نه؟ او دا طلاق بائن دی اوکه څه؟

جواب: که يي نيت په دي الفاظو دطلاق وي نو بائن طلاق به واقع وي: لست لك بزوج او لست لي بامراة اوقالت لست لي بزوج فقال صدقت طلاق ان نواه درمختار وفی الشامی واشار بقوله طلاق ای ان الواقع بهذه الکناية رجعي کذا في البحر ([3]) ددي عبارت څخه واضحه سوه چي په دي صورت کي په نيت کولو باندي به طلاق رجعي وي، دعدی څخه وروسته ددي نکاح دبل سړي سره صحيح ده.

ښځي ته يی وويل چي دچا سره دي خوښه وي دهغه سره بيديږه: **سوال**: (۲۲۵) يوه سړي خپلي ښځي ته وويل چي ته دفلاني سره مه بيديږه نورچي دي دهرچاسره زړه غواړي بيديږه

([1]) ايضاً، ط. س. ج۳ ص۲۹۲. ظفير

([2]) لو قال لم يبقی بينی وبينك ونوی يقع (عالمګيري کشوری ج۲ ص۳۹۴ ماجديه مصري ج۱ ص۳۷۲). ظفير

([3]) ردالمحتار ج۲ ص۲۲۳ باب الصريح. ط. س. ج۳ ص۲۸۲. ظفير

په دي ويلو سره دابنځه دزيد دنکاح څخه ووتله اوکه نه؟
جواب: په دي ويلو سره دزيد ښځه دنکاح څخه خارجه نه سوه او پر هغې باندي طلاق واقع نه سو. فقط

زما ستا سره هيڅ تعلق نسته: **سوال**: (۲۲۶) يوه سړي خپلې ښځي ته دهغه دمور او دانا او داکا په مخکي دا کلمه وويله چي زما ستا سره هيڅ تعلق نسته نو په دي صورت کي دابنځه ددي ميړه په نکاح کي پاته ده اوکه نه؟ او بچيان دپلار څخه دځه اخيستو مستحق دی اوکه نه؟ اوبچی بل ځای نکاح کولای سي اوکه نه؟
جواب: که ميړه دا لفظ چي زما ستاسره هيڅ تعلق نسته په نيت دطلاق ويلي وي نو دده پر ښځي يوبائن طلاق واقع سو دعدی څخه وروسته دويمه نکاح ددي ښځي صحيح ده اوکه په نيت دطلاق ده دالفظ نه وي ويلی يا دده سره ددي ويلو څخه انکاری وي نو چي شرعي شاهدان پوره نه دی نو ددي وجهي طلاق ثابت نه دی او دنيت حال دميړه څخه په پوښتنه کولو سره معلوميدای سي (۱) دبچو خرچه دپلار پرذمه ده او چي ترڅو طلاق ثابت نه وی نو دښځي نفقه هم دده پرذمه ده او دپلار دمرګه څخه وروسته بچيانو ته به دده مال په اعتبار دشرعي برخو حاصليږي.

دا يي وويل چي: ته مي پريښوولې نو څه حکم دی؟ **سوال**: (۲۲۷) زيد خپلې ښځي ته ددرد په حالت کي وويل ماته پريږدي يی اوته زما دلور په شان يي نو په دي صورت کي طلاق واقع سو اوکه ظهار که زيد ددي سره نکاح کول غواړي نو دعدی څخه وروسته يي کولای سي او که هر وخت چي وغواړي دمهر اوشاهدانو وجود پکښي ضروري دی اوکه نه؟
جواب: که يي دطلاق په نيت دا لفظ ويلي وي نو يو بائن طلاق واقع سو اوکه دطلاق نيت نه وو نوطلاق نه واقع کيږي او په دي سره ظهارنه کيږي دطلاق دنيت په صورت کي زيد ورسره نکاح په عده کي اودعدې څخه وروسته کولای سي مهر او شاهدان ضروري دي (۲).

بل ته يي وليکل زما ښځه فارغه کړه نو څه حکم دی؟ **سوال**: (۲۲۸) زيد خپل وروړته خط وليکی چي دوی مياشتي وروسته زما ښځه فارغه کړه: ددي خط دراتلو يو کال وسو نو

---

(۱) لو قال لم يبق بيني وبينك عمل لم يقع (عالمگيري کشوري ج۲ ص ۳۹۴. ماجديه ج ۱ص ۳۷۲) فالکنايات لا تطلق، الا بالنية. (الدرالمختار على هامش ردالمحتا باب الکنايات ج۲ ص۷۳۵. ط س. ج۳ ص۲۹۲). ظفير
(۲) وان نوى بانت على مثل امي او کامي وکذا لو حذف علي بر او ظهار او طلاق صحت نيته ووقع ما نواه لانه کناية (الدر المختار على هامش رد المحتار باب الظهار ج۲ ص۷۹۴. ط. س. ج۳ ص۴۷۰). ظفير

دا ښځه بله نكاح كولاى سي او كه نه؟

جواب: ميړه چي دخپل ورور په نامه خط ليكلي دى چي دوى مياشتي وروسته زما ښځه فارغه كړه نو كه يي په نيت دطلاق ليكلي وي اود ده ورور موافق دخط دميړه دا ښځه فارغه كړي وي يعني طلاق يي وركړى وي نو دا ښځه طلاقه سوه. دميړه دطلاق دنيته پرته او دورور دطلاق وركولو پرته طلاق نه واقع كيږي نو كه ورور طلاق وركړي وي او دميړه نيت هم دا وي نو دطلاق دوركولو وروسته كه عده يعني درى حيضه تير سوي وي نو اوس ښځه دويمه نكاح دچا سره چي وغواړي كولاى سي او كه داسي نه وي نو نكاح نه سي كولاى ورور لره په كار دى چي اول دميړه څخه پوښتنه وكړي چي په دي لفظ ستا نيت څه وو نو ددي څخه وروسته چي هغه ووايي چي زما غرض طلاق وو نو دغه وخت ورور لره په كار دى چي طلاق وركړي اوچي كله دى طلاق وركړي نو دهغه څخه وروسته چي دعدى درى حيضه پوره سي بيا دا ښځه دويمه نكاح كولاى سي.

ويي ويل چي زما دكار نه يي طلاق مي دركړى نوڅه حكم دى؟ **سوال:** (۲۶۹) يوه سړي خپلي ښځي ته شپږ كاله وړاندي په دي الفاظو طلاق وركى چي ته زما مور اوخور يي زه دا په خپل كور كي نه ساتم دا زما په درد نه خوري ما خو دي ته طلاق وركړى دى نو اوس دا ښځه دويمه نكاح كول غواړي زيد وايي چي ما طلاق نه دى وركړى او چي دكمو خلكو په مينځ كي يي دا الفاظ ويلي دي په هغوى كي ځيني مړه دي اوځيني ژوندي دي؟

جواب: په دي صورت كي بائن طلاق واقع سو خو كه ميړه انكار كوي نو په دوو عادلو شاهدانو سره طلاق ثابتيږي ([1]) او چي دوه عادل شاهدان دطلاق نسته نوطلاق به ثابت نه وي او دميړه انكار به معتبر وي او چي شاهدان وي بيا دميړه انكار اعتبار نه لري ([2]) اوكه دوه شاهدان دطلاق وي نو اوس چي كله شپږ كاله وسوه دطلاق نوظاهره ده چي عده دطلاق چي درى حيضه دي هغه به هم تيره سوي وي په دي حالت كي مطلقي ښځي ته دوهمه نكاح كول صحيح دى.

ورته وي ويل چي كم طرف دي خوښ وي هلته ولاړه سه نوڅه حكم دى؟ **سوال:** (۲۷۰) يو سړي خپلي ښځي ته طلاق وركى چي كم ځاى دي مرضي وي ولاړه سه زماهيڅ دعوه نسته

([1]) فالكنايات لا تطلق الا بنية (الدر المختار على هامش ردالمحتار باب الكنايات ج۲ ص۲۳۵. ط. س. ج۳ ص۲۹۲). ظفير

([2]) ونصابها لغيرها من الحقوق سواء كان الحق مالا او غيره كنكاح وطلاق الخ رجلان اورجل وامراتان (الدر المختار على هامش ردالمحتار كتاب الشهادت ج۴ ص۵۱۵. ط. س. ج۵ ص۴۶۵). ظفير

نو په دي صورت كم كم طلاق واقع سو؟

جواب: په دي صورت كي بائن طلاق واقع سو [1].

(هيڅ كار مي درسره نسته) دا جمله يي دطلاق په نيت وويله نو طلاق وسو اوكه نه؟ سوال: (۲۷۱) دهاجري ميړه دهاجري سره بدسلوك وكی دهاجري دپوښتني په جواب كي يې وويل څه ستا سره زما هيڅ كار نسته اونه ستا زما سره نو هاجره دمور كره راغله اوبل ځاى نكاح كول غواړي اول ميړه فساد اوشر ته تيار دی نوشرعا څه حكم دی؟

جواب: دميړه دا الفاظ چي زما ستا سره هيڅ كارنسته كه يي په نيت دطلاق ويلي وي نو دده ښځه بائنه طلاقه سوه او كه ميړه دطلاق په نيت دويلو څخه انكار كوي نو بيا طلاق نه واقع كيږي [2] او داول ميړه دطلاقه پرته دهاجري دويمه نكاح صحيح نه ده.

په دويم ميړه وكړه، ويلو سره په شرط دنيت طلاق واقع كيږي: سوال: (۲۷۲) دزبيدی ميړه دڅو كلو راهيسي دخپلي ښځي څخه بي خبره دی او ګدايي كوي دښځي دطرفه دپوښتني كولو په جواب كي يي وويل چي زه ددي خرڅ نه سم زغملاى او دويم ميړه دي وكړي زما هيڅ اعتراض نسته نوڅه حكم دی؟

جواب: كه ميړه دا لفظ په نيت دطلاق ويلی وي نو دده پرښځی بائن طلاق واقع سو او كه يي په نيت دطلاق سره نه وي ويلی نو طلاق واقع نه دی او دنيت حال دميړه څخه معلوميداى سي [3].

زه داخپله ښځه نه ګڼم په دي ويلو سره كه نيت دطلاق وي نو طلاق واقع كيږي: سوال: (۲۷۳) يوه سړي په عدالت كي دا بيان وكی چي لاندي ليكلی دي نو په دي سره دده ښځه طلاقه سوه او دبل چا سره نكاح كولاى سي اوكه نه؟ (خاتمه نومي ښځه زما ښځه وه بدكاره سوي وه او دولس كاله وسوه چي زما دكور څخه وتلي ده ما ديته طلاق نه دی وركړی او ددي ګذاره په حرامكاري ده اوس هغه زه خپله ښځه نه ګڼم زما دواده ديارلس (۱۳) كاله وسوه).

---

[1] فنحو اذهبي واخرجي وقومي الخ ففي حالة الرضاء تتوقف الاقسام على نيته (درمختار باب الكنايات. ط. س. ج۳ ص۲۹۸ – ۳۰۰) ولو قال لها اذهبي اى طريق شئت لا يقع بدون النية (عالمګيري مصري كتاب الطلاق ج۱ ص۳۵۲. ط. ماجديه، ج۱ ص۳۷۲). ظفير

[2] فنحو اخرجي وقومي الخ ففي حالة الرضاء توقف الاقسام على نية (درمختار باب الكنايات. ط. س. ج۳ ص۲۹۸ – ۳۰۰) ولو قال لها اذهبي اى طريق شئت لا يقع بدون النية (عالمګيري مصري كتاب الطلاق ج۱ ص۳۵۲). ظفير

[3] ولو قال اذهبي وتزوجي واحدة اذا نوي (عالمګيري مصري كنايات ج۱ ص۳۵۲ والقول قول الزوج في ترك النية مع اليمين (ايضا ج۱ ص۳۷۵). ظفير

جواب: دا الفاظ چي زه دا خپله ښځه نه ګنم کنايي دي که دميړه نيت دطلاق وو نو دده پر ښځه بائن طلاق واقع کيږي اوکه يي نه وو نو طلاق نه واقع کيږي او په شامي کې دي چي دلالت الحال په دي صورت کي دنيت قائم مقام نه دي او ددرمختار عبارت دادی: لست لك بزوج او لست لي بامرأة او قالت لست لي بزوج فقال صدقت طلاق ان نواه، اوپه شامي کي دي: قوله طلاق ان نواه لان الجملة تصلح لانشاء الطلاق كما يصلح لانكاره فيتعين الاولى بالنية لانه لايقع بدونها اتفاقا لكونه من الكنايات واشار الى انه لايقوم مقام دلالة الحال الخ واشار بقوله طلاق الى ان الواقع بهذه الكناية رجعي كذا في البحر من الكنايات ج۲ ص۴۵۳. ([1])

دبل چا سره واده وکړه، په دې ويلو سره بې له نيته طلاق نه واقع کيږي: **سوال**: (۲۷۴) يوه سړي خپلي ښځي ته وويل چي ته قلم او رنګ راوړه چي درته وليکم چي دبل چاسره واده وکړه نوپه دي صورت کي طلاق واقع سو او که نه؟

جواب: په دي صورت کي بې له نيته طلاق نه واقع کيږي. کذا في الدرالمختار ([2]).

ښځي ته يې وويل چي ته زما خور يې نوځه حکم دي؟ **سوال**: (۲۷۵) زيد خپلي ښځي هندي ته په جنګ کي وويل چي اوس ته زما خور يې دا يي هم وويل چي اوس زما ددي سره څه تعلق نسته نو په دی صورت کي څه حکم دی؟

جواب: په درمختار کي دي: ولا ينو شيئا اوحذف الكاف لغا الخ ([3]) يعني که يي هيڅ نيت نه وي او يا حرف تشبيه حذف کړي مثلا دا ووايي چي ته زما خور يې نو لغوه دی په دي سره طلاق اوظهار يو هم نه واقع کيږي او دا لفظ چي اوس زما ددي سره هيڅ تعلق نسته کنايي لفظ دی نوکه په نيت دطلاق يي دا لفظ ويلی وي نو دده ښځه بائنه سوه اوکه يي نه وي ويلی نو هيڅ هم ونه سوه، نوکه په دي الفاظو دخاوند دطلاق نيت نه وو نو دی دا ښځه ساتلای سي، او دا دده ښځه ده اوکه يي په نيت دطلاق دا الفاظ ويلي وي نو په نوي نکاح بي له حلالي دا بيرته ښځه کولای سي.

ديوي جملې مطلب: **سوال**: (۲۷۶) ددرمختار ددي قول څه مطلب دی: ولا يقع باربعة طرق عليك مفتوحة. ([4])

([1]) ردالمحتار باب الصريح ج۲ ص۲۲۳. ط. س. ج۳ ص۲۸۲. ظفير

([2]) ولو قال اذهبي فتزوجي وقال لم انو الطلاق لايقع شيء الخ ويؤيده ما في الذخيرة اذهبي وتزوجي لا يقع الا بالنية (ردالمحتار باب الكنايات ج۲ ص۲۵۲ ط. س. ج ۳ ص ۳۱۴). ظفير

([3]) الدرالمختار على هامش ردالمحتار باب الظهار ج۲ ص۷۹۴. ط. س. ج ۳ ص۴۷۵. ظفير

([4]) وګورئ: الدرالمختار على هامش ردالمحتار باب الكنايات ج۲ ص ۲۵۳. ط. س. ج۳ ص۳۱۴. پوره =

جواب: د (اربعة طرق مفتوحة) مطلب دا کيږي چي کم طرف ته دي خوښه وي ولاړه سه اختيار دی اوچي پرکمه لاره ځي ممانعت نسته نو غرض دفقهاوو دادي چي په دي لفظ سره طلاق نه واقع کيږي.

ديوه طلاق ځخه وروسته درجوع حق سته خو که يي پريښودل وويل نو باينه سوه او رجوع نه سي کولای: **سوال**: (٢٧٧) که سړي خپلي ښځي ته دغصي په حالت کي لفظ دطلاق وويلی او بل لفظ يي دپريښودلو دخولي ځخه ووتی نو درجوع ځه حکم دی؟ اوکه ځو ځله لفظ دپريښودو ووايي نوځه حکم دی؟

جواب: په يو يا دوه ځله لفظ دطلاق ويلو سره طلاق رجعي واقع کيږي اوپه عدت کي دننه رجوع کول بي له نکاح صحيح دی او که ددي ځخه وروسته لفظ دپريښودو ووايي نو بائن طلاق واقع کيږي او په هغه کي نوي نکاح ته ضرورت دی او لفظ دپريښودو په نيت دطلاق ويلو سره هم بائن طلاق واقع کيږي.

ښځي ته يي وويل: ته زما خور سوي يي ځيري چي دي خوښه وي نکاح وکړه ځه حکم دی؟

سوال: (٢٧٨) ښځي ته يي وويل ته زما خور سوي يي چي کم ځای غواړي هلته نکاح وکړه نوځه حکم دی؟

جواب: خپلي ښځي ته دا لفظ ويل چي ته زما خور سوي يي لغوه دی او په دي سره طلاق نه واقع کيږي خو دا لفظ ويل مکروه دي اوبيا داسي ويل نه دي په کار، مګر دا لفظ ويل چي کم ځای دي خوښه وي نکاح وکړه دا کنايي طلاق دی ([1]) په دي کي که نيت دطلاق وي نو طلاق واقع کيږي اوکه نيت نه وي نو طلاق نه واقع کيږي. ([2])

يوچا په ټوکه وويل چي ښځه مي پريوده نو ځه حکم دی؟ **سوال**: (٢٧٩) يوه سړي بل سړي ته وويل چي ښځه دي پريښوده نو ده په ټوکه وويل چي پري مي ښودله اوپه زړه کي يي دهيڅ شي اراده نه وه نو په دي صورت کي ځه حکم دی؟

جواب: په دي صورت کي يو بائن طلاق دده پرښځه واقع سو ځکه چي په ټوکه کي هم په طلاق ورکولو سره طلاق واقع کيږي ([3]) اودپريښودو لفظ په عرف دهندوستان کي طلاق

= عبارت دا دی: ولايقع باربعة طرق عليك مفتوحة وان نري ما لم يقل خذي اى طرق شئت (درمختار) كانه يريد ان مراد الناس بمثله اسلكي الطريق الاربع والا فاللفظ انما يعطي الامر بسلوك احدها والاوجه ان تقع واحدة بائنة، فتح (ردالمحتار باب الكنايات ج۲ ص۷۵۳. ط. س. ج۳ ص۳۱۴). ظفير

([1]) ويكره قوله انت امي ويابنتي واختي ونحوه (الدرالمختارعلى هامش ردالمحتارباب الظهارج۲ص۷۹۴). ظ

([2]) ولو قال لها اذهبى فتزوجي يقع واحدة اذا نوى (عالمگيري مصري كنايات ج۱ ص۳۷۲). ظفير

([3]) ثلث جدهن جد وهزلهن جد وعد منها النكاح والطلاق الخ (مشكوة باب الطلاق). ظفير

دی (که نیت یي دطلاق وي نو طلاق به واقع وي کنې نه به وي واقع. ظفیر)

دښځي په جواب کې یې وویل ښه دی ځه تعلق ختم، خو نیت یې دطلاق نه وو نوڅه حکم دی؟ **سوال:** (۲۸۰) زید خپلي ښځي ته وویل چي ته تر یوه کاله پوري دخپل مور او پلار کره ولاړه سه اوزه به بلي خواته ولاړ سم ښځي وویل چي زه خو دپوره کال لپاره نه ځم خوکه ته تعلق ختموي او دهمیشه لپاره مي پریږدي نو ولاړه به سم زید وویل چي دا بالکل نه سم کولای بیا دزید دخولي څخه دخبرو په دوران کي بي له نیت او ارادي ووتل چي ځرنګه ته غواړي نو همداسي دي پریږدم هغي وویل چي ښه! دزید دخولي څخه دطلاق دارادي پرته دا ووتل چي ووزه! نو آیا په دي لفظ سره طلاق واقع سو اوکه نه؟

جواب: دطلاق دنیته پرته په دي لفظ سره طلاق نه واقع کیږي.

دطلاق له نیته پرته یې په غصه کې ښځې ته وویل چې ته ازاده یې نوڅه حکم دی؟ **سوال:** (۲۸۱) یوه سړي په حالت دغصي کي خپلي ښځي ته وویل چي ته زما له لوري ازاده یي او په دي الفاظو ویلو سره دده نیت دطلاق ورکولو نه وو صرف په غصه کي یي ددي دبیرولو لپاره دیته ویلي وه ددي څخه وروسته دا ښځه تر یو نیم کاله پوري دمور کره اوسیدله اوس هغه سړي دا رضا کړه او بیرته یي کورته راوستله نو آیا په دي الفاظو سره طلاق واقع سو؟ که سوی وي نو کم طلاق دی؟ هغه طلاق دی چي یواځي دنکاح دتازه کولو ضرورت پکښي وي اوکه دحلالي هم؟

جواب: په حالت دغصي کي ښځي ته ویل چي ته ازاده یي په دي سره یو بائن طلاق واقع کیږي قضاءً به یي دنیت اعتبار نه وی کذا في الشامي [۱] ددي ښځي ساتل ددویمي نکاح پرته صحیح نه دي نو که دویم وار په نکاح کولو سره رضا وي نوبي له حلالي نکاح کیدای سي دوباره دي نکاح وکړي.

واخله فارغنامه واخله، په طلاق ویلو سره طلاق واقع سو اوکه نه؟ **سوال:** (۲۸۲) یو سړي خپل زوم ته ولیکل چي ته زما دلور خرچه نه سي زغملای نو چي ستا سره دنفقي وس نسته نو دي ته یوه لاره جوړه کړه ددي په جواب کي میړه ښځي ته دا وویل چي ستا دپلار دلیك څخه معلومیږي چي ته فارغنامه غواړي نو اوس ته زما په درد نه خوري زما لپاره حرامه یي فارغنامه واخله طلاق واخله په دي صورت کی طلاق واقع سو اوکه نه؟

جواب: دفارغنامي په لفظ ویلو یا لیکلو سره بائن طلاق واقع کیږي که ښځه داقبوله کړي اوحرامه سي اونورالفاظ هم داسي دي چي که میړه په نیت دطلاق ویلي وي او یا مذاکره

---

(۱) قال انت طالق او انت حر وعني الاخبار كذبًا وقع قضاءً الا اذا شهد على ذلك (درمختار) اى على انه يخبر كذبا (ردالمحتار باب الصريح ج۲ ص۲۳۳ ط. س. ج۳ ص۲۹۳). ظفیر

دطلاق وي او دا الفاظ وويل سي نو بائن طلاق واقع کيږي. (۱)

طلاق درکوم پرخپل ځان مي حرامه کړي چي کمي خوا ته ځي ولاړه سه، په طلاق نامه کي يي وليکل نوځه حکم دي؟ سوال: (۲۸۳) غلام جيلاني خپلي ښځي ته دطلاقنامي دا مضمون وليکی او ويي ليږل چي فاطمي بي بي ته طلاق ورکوم او دنن تاريخ څخه دا ما پرخپل ځان حرامه کړه نو دې ته اختيار دی چي کم ځای غواړي نکاح دی وکړي که په عدت کي يا دعدت څخه وروسته تجديد دنکاح وکړي نو صحيح به وي اوکه نه؟

جواب: په دي صورت کي دغلام جيلاني پرښځه دوه بائن طلاقه واقع سوه (۲) دا مطلقه ثلاثه نه ده ددي وجهي په عدت کي يا دعدت څخه وروسته غلام جيلاني دا په نوي نکاح سره بيرته ښځه کولای سي حلالي ته ضرورت نسته.

ښځي ته يي وويل چي زه ستا لائق نه يم ته بل انتظام وکړه، نو ځه حکم دي؟ سوال: (۲۸۴) هنده بيان کوي چي دځه وخته څخه زما واده سوی دی ميړه بالکل زما لوري ته نه دی مخاطب سوی يوه شپه ما دميړه لاس ونيوی بيا ميړه ماته په منت وويل چي زه بالکل ستا لائق نه يم ته دځان لپاره بل انتظام وکړه دايي وويل او پنځه روپۍ يي راکړي او صبا بل ځای ولاړی نو په دي صورت کي هنده طلاقه سوه اوکه نه؟ او دا دويمه نکاح کولای سي اوکه نه؟

جواب: که په نيت دطلاق ميړه دا لفظ ويلي وي نو دده پرښځه يو بائن طلاق واقع سو. (۳) او دعدت دتيريدو څخه وروسته دا ښځه دويمه نکاح کولای سي خو دنيت حال دميړه څخه معلوميدای سي او دميړه دنامردتوب په وجه شرعي قاضي دتاجيل څخه وروسته تفريق کولای سي خو دا په دي زمانه کي نه سي کيدای ځکه چي قاضي شرعي موجود نه دی.

په لاندېني صورت کي ځه حکم دي ؟ سوال : (۲۸۵) دهندي نکاح دزيد سره سوي وه دوه

---

(۱) فالکنايات لاتطلق بها الابنية اودلالة الحال الخ فنحواخرجي واذهبي وقومي الخ حلية برية حرام (الدرالمختار على هامش ردالمحتار باب الکنايات ج۲ ص۲۳۷. ط. س. ج۳ ص۲۹۲). ظفير

(۲) الصريح يلحق الصريح ويلحق البائن بشرط العدة (درمختار) واذا لحق الصريح البائن كان بائنا لان البينونة عليه تمنع الرجعة كما في الخلاصة (ردالمحتار باب الکنايات ج۲ ص۶۴۵. ط. س. ج۳ ص۳۵۲) قال الزوج طلاق مي کنم طلاق ميکنم؟ قاله ثلاثا طلقت ثلاثا بخلاف قوله کنم لانه استقبال فلم يکن تحقيقا بالتشکيك ولو قال بالعربية اطلق لا يکون طلاقا الا اذا غلب استعماله للحال فيکون طلاقا (عالمگيري مصري کنايات ج۱ ص۳۸۴). ظفير

(۳) فالکنايات لا تطلق بها الا بالنية (الدرالمختار على هامش ردالمحتار باب الکنايات ج۲ ص۲۳۵. ط. س. ج۳ ص۲۹۲). ظفير

دوه نیم کاله ددواړو یعني دښځي او میړه سم تعلق وو بیا زید هنده دکور څخه وایستله او ویي ویل چي کم ځای ستا خوښه وي ولاړه سه ته زما دکار نه یي اوزما سره دي هیڅ تعلق نسته چي څه دي خوښه وي نو هغه کوه بیا هندي ناوړه دنده شروع کړه اوس یي دیوه دیني عالم وعظ واوریدی نو ددي سره دا فکر پیدا سو چي زه به دا قبیح کار پریږدم او دیوه شریف سړی سره به نکاح کوم خو چي زید هندي ته طلاق نه وو ورکړی نو دبد کسب کولو په حالت کي نکاح ماته سوه اوکه نه؟ او ددویمي نکاح کولو په حالت کي طلاق ته ضرورت سته اوکه نه؟

جواب: دزنا او یا بل ناروا کسب په کولو سره داول میړه نکاح باطله نه ده اوچي کم الفاظ زید ویلي دي هغه دکنایي طلاق دی په هغو کي دوقوع دطلاق لپاره دطلاق دنیت ضرورت دی نوکه ده دا الفاظ په نیت دطلاق ویلي وي نو طلاق واقع سو دوهم وار دطلاق ضرورت نسته (۱) اوکه یي په نیت دطلاق دا الفاظ نه وي ویلي نو ددویمي نکاح دجواز لپاره داول میړه طلاق ضروري دی، کذا في الشامي.

ټول عمر به زموږ او ستا هیڅ تعلق نه وي، دا یي وویل نوڅه حکم دي؟ سوال: (۲۸۶) زید خپلي ښځي هندي ته داسي وویل چي ستا او زموږ به ټول عمر هیڅ تعلق نه وي نو طلاق واقع سو اوکه نه؟ خو دا الفاظ یي دغصي په حالت کي ویلي دي بلکه که نیت دطلاق وي نوبیا هم هغه حکم دی کم چي دغصي په حالت کي دویلو دي اوکه نه؟ اوایا زید هنده دخپل ځان سره ساتلای سي؟ او ترنکاح وروسته بیا طلاق واقع کیږي؟

جواب: دا لفظ دکنایاتو په دوهم قسم کي داخل دی چي په حالت دغصي کي بي له نیته طلاق نه وربانديي واقع کیږي: في الدرالمختار وفي الغضب توقف الاولان الخ (۲) نوکه نیت دطلاق نه وي نو طلاق به نه وي واقع اوکه نیت دطلاق وي نو یو بائن طلاق به واقع وي او دوهم وار ددي سره نکاح کولای سي اوپه ذکر سوي لفظ سره ددوهم وار نکاح څخه وروسته بیا طلاق نه واقع کیږي.

پنځه کاله وروسته مو چي څه په زړه کي راسي نو ویي کړئ، په دي ویلوسر طلاق وسو اوکه نه؟ سوال: (۲۸۷) یو سړی په تورو اوبو کي قید سو وارثانو پوښتنه ورڅخه وکړه چي ستا وروسته به ستا دښځي څه ګذران وي آیا ستا وروسته ددي بل ځای نکاح وکړو نو ده وویل: چي زما دتلو څخه پنځه کاله وروسته چي ستاسو زړه څه غواړي هغه وکړئ تاسوته اختیار دی نو اوس دده دتلو شپږ کاله وسوه نو آیا اوس ددي ښځي دویمه نکاح

(۱) ولو قال لها اذهبي ای طریق شئت لا یقع بدون النیة (عالمګیري مصري باب الکنایات ج۱ ص۳۷۲). ظفیر

(۲) الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب الکنایات ج۲ ص۶۴۰. ط. س. ج۳ ص۳۰۱. ظفیر

جائز ده اوکه نه؟
جواب: په دي صورت کي دده پرښځه طلاق واقع نه سو ځکه چي په صفا لفظونو کي ده طلاق نه دی ورکړی اونه دده دنیت حال معلوم سو اونه دي مفقود الخبر دی چي اوس دده دښځي نکاح بل ځای جائز سي، په هر حال په دي صورت کي دویمه نکاح کول ددي ښځي جائز نه دی.

طلاق غواړي؟ ښځي وویل هو! میړه وویل ځه ولاړه سه، نوځه حکم دی؟ **سوال**: (۲۸۸) زید خپله ښځه په یوځه پوهوله خو هغي ونه منل دښځي دآرزو معلومولو لپاره یي وویل ته طلاق غواړي دي وویل هو! نو زید وویل چي ځه ولاړه سه نو ښځه دهغه ځای څخه ونه پاځیدله، بیا څه لږ ساعت وروسته زید رجوع وکړه زید وایي چي ما دا لفظ په نیت دطلاق نه دي ویلي نو په دي صورت کي څه حکم دی؟ اوکه زید دا لفظ دری ځله یازیات تر دری ځله ویلي وي نوڅه حکم به وي؟
جواب: ددي کلمي څخه لکه څنګه چي زید وایي چي دده دطلاق نیت نه وو نو طلاق نه دی ورباندي واقع سوی او دپخوا په شان نکاح ددوي قائمه ده اوکه دزید نیت دطلاق وو او په نیت دطلاق یي دری ځله یا زیاته دا کلمه ویلي وي نو دده پرښځه یو بائن طلاق واقع کیږي او رجوع صحیح نه ده ځکه چي په بائن طلاق کي رجوع صحیح نه ده دنوي نکاح ضرورت دی. ([1])

خواښي ته یي ولیکل چي دخپلو سترګو دنور نکاح دي یوځای وکړه نوڅه حکم دی؟ **سوال**: (۴۸۹) زید دخپلي ښځي په باره کي خپلي خواښي ته ولیکل چي دخپلو سترګو دنور عقد ډیر ژر یوځای وکړه، دا مشوره په وجه دمخالفت نه ده بلکه نیکه مشوره درکوم نو آیا طلاق واقع سو اوکه نه؟
جواب: په دي سره طلاق واقع نه سو.

پرخپل ځان می حرامه کړي، ددي ویلو څه حکم دی؟ **سوال**: (۲۹۰) زما منکوحه زما داجازي پرته دپردو کره ولاړه ما دا پوهه کړه خو دي ونه منل بلکه ماته یي ښکنځل کول شروع کړه اوبي له اجازي دخپل مور او پلار کره ولاړه ددي پلار زه مجبوره کړم نو زه ددي پرېښودو ته تیار سوم طلاق نامه لیکونکي دمیړه څخه پوښتنه وکړه چي تا خپله ښځه پرخپل ځان حرامه کړه نو ما دبیري له وجهي دری ځله وویل: ما خپله ښځه پرخپل ځان حرامه کړه، لیکونکي زما ګوته ولګوله بیا څو ورځي وروسته ښځه ماته راغله چي

([1]) فالکنایات لاتطلق بها الا بنیة الخ فنحو اخرجي واذهبي (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب الکنایات ج۲ ص۷۳۵. ط. س. ج۳ ص۲۹۲). ظفیر

زه ستا ځخه جلا کيدل نه غواړم خو ددي پلار دعدت ځخه وروسته ددي نکاح دبل سړي سره وکړه نو ايا دا نکاح صحيح ده اوکه نه؟

جواب: په دي صورت کي دپوښتونکي پرښځه يو بائن طلاق واقع سو لکه څنګه چي حکم دکناياتو دي چي دکنايي الفاظو په بيا بيا ويلو سره يو بائن طلاق واقع کيږي كذا في الشامي [1] نوکه دبل سړي سره دعدت دتيريدو ځخه وروسته ددي ښځي نکاح سوی وي نو دا نکاح صحيح سوه او چي دکمي ښځي حيض راځي نو دهغې عدت دری حيضه دي نو که په دريو مياشتو او لسو ورځو کي ددي ښځي دری حيضونه راغلي وي نو ددي عدت پوره سوه او نکاح چي دعدت ځخه وروسته وسوه نوهغه صحيح سوه، شامي وغيره، او ښکاره دی وي چي په بائن طلاق کي اول ميړه بي له نکاح رجوع نه سي کولای خو جديده نکاح کولای سي خو چي کله دي ښځي دبل سړي سره دعدت دتيريدو ځخه وروسته نکاح وکړه نو داول ميړه سره ددي نکاح نه سي کيدای.

دښځي قريبانو ته يې وويل چي ښځه زما په درد نه خوري، همدا زما طلاق او فارغ نامه وګڼئ، نو څه حکم دی؟ **سوال**: (۲۹۱) يوه سړي دخپلي ښځي قريبانو ته وويل چي ښځه زما دکار نه ده زه ددي ساتل نه غواړم نو ددی وجهي خپله انجلی زما دکور ځخه بوځئ او همدا زما طلاق او فارغنامه وګڼئ ددي الفاظو دويلو ځخه وروسته عقد قائم دی اوکه طلاق واقع سو؟

جواب: په دي صورت کي يو بائن طلاق دده پرښځه واقع سو او دعدت دتيريدو ځخه وروسته دا ښځه بله نکاح کولای سي.

يو ځل يې طلاق ورکی او دری ځله يې وويل پرې مي ښودله نو څو طلاقه واقع سوه؟ **سوال**: (۲۹۲) زما او زما دښځي يو جنجال راغئ په دي خاطر ددي ماما ظهير احمد زه دومره ووهلم چي زما پرسترګو تياره راغله او زما غاړه يي خفه کړه تقريبا دوه سوه لرګيه يي ووهلم ددي وجهي ځخه دغصي په حالت کي ما يوځل وويل چي ما تاته طلاق درکی په همدي وخت کي يو سړی راغی او وي ويل چي ده خپله ښځه پريښودله ما يوځل يا دری ځله وويل چي پري مي ښودله خو لفظ دطلاق مي صرف يوځل ووايه نو په دي صورت کي شرعًا څه حکم دی؟

جواب : په دي صورت کي دسائل پر ښځه دوه بائن طلاقه واقع سوه ځکه چي يو صريح

---

[1] فالکنايات لا تطلق بها الا بنية او دلالة الحال الخ فنحو اخرجي واذهبی وقومي يحتمل ردا الخ ويقع بباقيها ای باقي الفاظ الکنايات المذکورة الخ البائن ان نواها الخ لا يلحق البائن البائن (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب الکنايات ج۲ ص۲۳۵ – ۲۴۲، ط. س. ج۳ ص۲۹۲). ظفير

طلاق په لفظ دطلاق سره واقع سو او بیا په دری ځله پرې می ښودله پرې مي ښودله ویلو سره یو بائن طلاق واقع سو لکه څنګه چي په درمختار کي دي: والبائن یلحق الصریح [1] نوکه سائل ددي ښځي سره بیانکاح کول غواړي او دا ښځه هم راضي وي نونکاح کولای سي.

دکنايي بيلا بيلي جملي يې وويلي نو څو طلاقه واقع سوه؟ سوال: (۲۹۳) ما دخپلي ښځي په باره کي وویل چي ما نن دخپلي ښځي دنکاح تار وشکوی او دیوي پردی ښځي په څیر یي حرامه ګڼم. دژوند لپاره مي پرې ښودله او هغه زما دپاره نه سي حلالیدای نو په دي صورت کي دپوښتونکي پرښځه بائن طلاق واقع سو اوکه مغلظ واقع سو؟ او دوهم وار ددي دساتلو څه صورت دی؟

جواب: په دي صورت کي دپوښتونکي ښځه پرده حرامه سوه او دده پرښځه بائن طلاق واقع سو او دنکاح تعلق ختم یو خو چي کله دا طلاق په کنايي الفاظو سره ورکړل سوی دی نو ددي وجهي څخه دا ښځه په یوه طلاق بائنه سوه لکه څنګه چي په درمختار اونورو کي په ډاګه سوي دي چي: البائن لا یلحق البائن الخ [2] نو ددي وجهي سائل ددي مطلقي بائني سره بي له حلالي دوهم وار نکاح کولای سي په عدت کي هم او دعدت څخه وروسته هم، ځکه چي دری طلاقه په دي صورت کي واقع نه سوه. *كذا في كتب الفقه.*

ته زما دکور څخه ووزه که دطلاق په نیت وویل سوو نو طلاق واقع سو: سوال: (۲۹۴) یوه سړي خپلي ښځي ته په غصه کي دا الفاظ وویل چي ته زما خور یي اوزه ستا ورور یم اوس ته زما دکور څخه ووزه اوس ماته دټولو تکلیفونو څخه جلا کړي، وروسته بیا معلومه سوه چي په دي الفاظو سره دده نیت دطلاق وو نو په دي صورت کي کم طلاق واقع سو؟ میړه بي له حلالي نکاح کولای سي اوکه نه؟ ښځه بل ځای نکاح کولی سي اوکه نه؟

جواب: دمیړه دا ویل چي ته زما خور او زه ستا ورور یم دحرف تشبیه پرته لغوه دی. په دي سره طلاق یا ظهار نه واقع کیږي کذا في الدرالمختار [3] خو دمیړه دا ویل چي ته

---

[1] الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب الكنايات ج۲ ص۳۴۵، لا يلحق البائن البائن (درمختار) المراد بالبائن الذي لا يلحق هو ما كان بلفظ الكنايات لانه هو الذي ليس ظاهرا في انشاء الطلاق كذا في الفتح (ردالمحتار باب الكنايات ج۲ ص۷۴۲. ط. س ج۳ ص ۳۰۸ - ۳۰۷). ظفير

[2] الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب الكنايات ج۲ ص۷۴۲. ط. س. ج۳ ص۳۰۸. ظفير

[3] وان نوی بانت علی مثل امي برا او ظهارا او طلاقا صحت نيته وان لاينو شيئا او حذف الكاف لغا (درمختار) لأنه مجمل في حق التشبيه فما لم يتبين مراد مخصوص لا يحكم بشيء (ردالمحتار باب الظهار ج۲ ص۷۹۴. ط. س. ج۳ ص۳۷۵) فنحو اخرجي واذهبی وقومي الخ يقع بباقيها البائن الخ (ردالمحتار باب =

زما دکور څخه ووزه، دا کنايي طلاق دی په دي کي به نيت ته اعتبار ورکول کيږي نوکه ميږه دغه ذکر سوي الفاظ د طلاق په نيت ويلي وي نو دده پرښځه يو بائن طلاق واقع سو او دنکاح تجديد دښځي په خوښه سره کيدای سي او حلالي ته ضرورت نسته اوکه ښځه دده سره راضي نه سوه او دبل سړي سره نکاح کول غواړي نو دعدت څخه وروسته يي کولای سي.

(ته پرما حرامه يی) ددې ويلو دوه شاهدان سته نو بائن طلاق واقع سو: سوال: (**۷۹۵**) يوه سړي دغصي په حالت کي خپله ښځه ووهله اوچاړه يي پر راوايستله چي ماته پلار ووايه ښځي دبيري ورته وويل بيا ده وويل چي ته پر مور حرامه يي او زمور ستا سره هيڅ خبره نسته دا دښځي او دهغي دخپلو خلګو بيان دی خو سړي دوهلو پرته دنورو ټولو خبرو څخه منکر دي نو په دي صورت کي دشريعت څه حکم دی؟

جواب: که ددي لفظ (چي ته پرمور حرامه يي) اوريدونکي دوه معتبر عادل شاهدان موجود وي نو په دي سره دا ښځه پردي سړي حرامه سوه اوکه دوه شاهدان دذکر سويو الفاظو داوريدو نه وي او ميږه انکار کوي نو بيا طلاق واقع نه دی، په درمختار کي دي: والقول بيمينه الخ (۱) وفي الشامي کما افتی المتأخرون في أنت عليّ حرام بانه طلاق بائن للعرف الخ (۲).

شرعي طلاق درکوم چي کم ځای دي خوښه وي نکاح وکړه يي وويل نو کم طلاق واقع سو؟

سوال: (**۷۹۶**) يوه سړي په طلاق نامه کي دا ليکلي دي چي زه خپلي ښځي ته دخپل مينځي اختلافاتو په وجه شرعي طلاق ورکوم دې ته اختيار دی چي کم ځای غواړي نکاح دي وکړي زما دطرفه دا مطلق العنان ده ماهغي ته شرعي طلاق ورکی او هغي ماته مهر را وبخښی دا رجعي طلاق دی اوکه بائن؟

جواب: په شامي کي دا ليکلي دي چي که دصريح طلاق سره څه کنايي لفظ وويل سو نو دا دواړه به بائن طلاقونه سي او ظاهره ده چي مطلق العنان کول دښځي دازادولو په معنی دي همدارنګه هغي ته دنکاح اختيار ورکول د (إبتغي الازواج، يا اذهبي وتزوجي) په معنی دی او دا ټول کنايي طلاق دی اوپه مذاکره دطلاق کي په دي الفاظو سره بائن

= الظهار ج۲ ص۲۳۷. ط. س. ج۳ ص۲۹۸). ظفير

(۱) الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب الکنايات ج۲ ص۶۴۰. ط. س. ج۳ ص۳۰۰. ظفير

(۲) الحاصل ان المتأخرين خالفوا المتقدمين في وقوع البائن بالحرام بلانية حتی لايصدق اذا قال لم انو لاجل العرف الحادث في زمان المتأخرين لکن الرجعي لا يحرم الوطی فتعين البائن (ردالمحتار باب الکنايات ج۲ ص۲۳۸ – ۲۳۹. ط. س. ج۳ ص۳۹۹). ظفير

طلاق واقع کیږي نوکله چي دصریح طلاق څخه وروسته په دي الفاظو کي یو لفظ واقع سي نو صریح طلاق هم بائن گرځوي په شامي کي ددرمختار ددي قول: كما لو نوى بطلاق واحدة وبنحو بائن أخرى، په شرح کي راوړي دي: قوله (بنحو بائن) اى من كل كناية قرنت بطالق كما في الفتح والبحر شامي، او دا مسلمه ده چي په ځینو کنایاتو کي غضب او مذاکره دطلاق قائم مقام دنیت ده او (انت حرة) ددي قسم څخه شمارل کیږي چي په هغه کي په حالت دغضب اوپه مذاکره دطلاق کي بي له نیته بائن طلاق واقع کیږي لنډه دا چي په پوښتل سوي صورت کي ددي سړي پرښځه بائن طلاق واقع سو.

(ته پرما حرامه یې چي ترڅو داسي نه وي سوي) یې وویل نوڅه حکم دي؟ سوال: (۲۹۷) دزید ښځي او ددي خپلوانو پرزید تور ولگوی نو زید په غصه کي خپلي ښځي ته وویل چي پرما کم تور ولگول سو چي ترڅو دغه تصفیه نه وي سوي نو ته پرما حرامه یي په دي خبره دده ښځه بي له اجازي دخپلو قریبانو کورته ولاړه ددریو میاشتو زیات وخت وسو چي نه دا په خپله راغلي ده اونه زید دا راغوښتي ده اونه تر اوسه پوري ددغه تور په اړه کمه فیصله سویده نو په دي صورت کي طلاق وسو اوکه نه؟

جواب: دحرام لفظ کنایي دی اصلي قاعده دفقهي داده چي په دي کي نیت ته ضرورت دی بي له نیت څخه په حالت دغضب کي په دي سره طلاق نه واقع کیږي: كما في الدرالمختار وفي الغضب توقف الاولان الخ [۱] او دخلية برية او حرام او بائن الفاظ ددویم قسم څخه دي چي دغضب په حالت کي هم پر نیت موقوف دي نو که دا لفظ په نیت دطلاق خپلي ښځي ته وویل سي نو په دي سره یو بائن طلاق واقع کیږي اوپه حالت دمذاکري دطلاق کي له نیته پرته هم په دي لفظ سره بائن طلاق واقع کیږي اوشامي نقل کړي دي چي دمتأخرینو فتوی داده چي دحرام په لفظ سره بي له نیته بائن طلاق واقع کیږي: حيث قال وسيأتي وقوع البائن به بلا نية في زماننا للتعارف الخ وفي الدرالمختار وبقى امر الحرام بانه طلاق بائن وان لم ينوه الخ، او ښکاره ده چي تر یوي مودي پوري لکه مثلا دذکر سوي معاملي دتصفیي تر مودي پوري خپله ښځه پرځان حرامول دتل لپاره حرامول دي او لومړی میړه که دهغي سره نکاح کول غواړي نو په عدت کي دننه هم نکاح کول صحیح دي او دعدت څخه وروسته هم صحیح دي: وتنكح مبائنته بما دون الثلاث في العدة وبعدها بالاجماع الخ. [۲]

دری کرښي یې وکښلي او ویې ویل ماته پریښودي نو څه حکم دی ؟ سوال : (۲۹۸) یو سړي

---

[۱] الدرالمختار على هامش ردالمحتار باب الكنايات ج۲ ص۶۴۰. ط. س. ج۳ ص۳۰۱. ظفير

[۲] الدرالمختار على هامش ردالمحتار باب الرجعة ج۲ ص۷۳۸. ط. س. ج۳ ص۴۰۹. ظفير

اقرار کوي چي دغصي په حالت کي دطلاق په نيت دجنگ په دوران کي ما خپلي ښځي ته وويل يوه کرښه دوي کرښي دری کرښي او پر مځکه مي کرښي وکښلي داسي يي وويل چي ځه ته ما پريښودي او زموږ په وطن کي پرمځکه کرښي دطلاق ورکولو په وخت کي کښل کيږي نو په دې صورت کي دری طلاقه واقع سوه اوکه نه؟

جواب: ددرمختار په (باب الصريح) کي دي: صريحه ما لم يستعمل الا فيه الخ قال في الشامي واراد بما اللفظ او ما يقوم مقامه من الكتابة المستبينة او الاشارة المفهومة فلا يقع بالقاء ثلثة احجار اليها او بامرها بحلق شعرها وان اعتقد الالقاء والحلق طلاقا كما قدمناه لان ركن الطلاق اللفظ او ما يقوم مقامه مما ذكر كما مر (۱) وقال الشامي فيما سبق في شرح قوله وركنه لفظ مخصوص وبه ظهران من تشاجر مع زوجته فاعطاها ثلثة احجار ينوي الطلاق ولم يذكر لفظا لا صريحا ولا كناية لايقع عليها كما افتى به الخير الرملي، رد المحتار شامي (۲) نو معلومه سوه چي په ذکر سوي صورت کي په نيت دطلاق پرمځکه باندي په کرښو راکشولو سره دده پرښځه دری طلاقه نه واقع کيږي خو دا لفظ چي ته ما پرېښودي که يي په نيت دطلاق يا په حالت دغضب کي يا په مذاکره دطلاق کي ويلي وي نو يو بائن طلاق به واقع وي: *كذافي باب الكنايات من الدر المختار*.

که په دومره ورځي کي رانغلم نو زه به بي دعوي يم په دې صورت کي څه حکم دی؟ سوال:

(۷۹۹) يوي ښځي دخپل ميړه څخه دليك په ذريعه ياپه ژبه طلاق وغوښتی په جواب کي يي ميړه داسي وويل يا يي وليکل چي: که تر شپږو مياشتو پوري زه رانغلم او يامي ستا دضرورياتو انتظام ونه کی نو زه به بي دعوی يم چي څه دي زړه غواړي هغه وکړه نو طلاق واقع کيږي اوکه نه؟ په قدوري او هدايه کي دي چي دطلاق دمذاکري په وخت کي په طلاق بالکنايه باندي طلاق واقع کيږي ايا دا خبره صحيح ده؟

جواب: کم الفاظ دکنايي چي په پوښتنه کي ذکر سوي دي نو په هغو سره بي شکه دمذاکری دطلاق په صورت کي بائن طلاق واقع کيږي ځکه چي بي دعوي کيدل دانت حرة يا دانت برية وغيره په معنی سره راځي او په دې دواړو لفظونو سره دمذاکري دطلاق په وخت کي بائن طلاق واقع کيږي (۳) او چي ستا زړه وغواړي هغه وکړه دا په معنی داِخْتَارِيْ کيدی سي په دې کي دبائن طلاق دوقوع لپاره شرط دادی چي ښځه خپل

(۱) ردالمحتار باب الصريح ج۲ ص۵۹۰. ط. س. ج۳ ص۲۷۷. ظفير

(۲) وګورئ: ردالمحتار كتاب الطلاق ج۲ ص۵۷۴. ط. س. ج۳ ص۲۳۰. ظفير

(۳) وفي مذاكرة الطلاق يتوقف الاولى فقط ويقع بالاخيرين وان لم ينو (الدرالمختار على هامش ردالمحتار باب الكنايات ج۲ ص۶۴۵. ط. س. ج۳ ص۳۵۱). ظفير

ځان اختیار کړي، په شامي کي دي: اختیاري ای حیث ذکر انه لا یقع بهما الطلاق ما لم تطلق المرأة نفسها الخ. (۱)

زه به تا ونه ساتم ته مي پرېښودې يې وويل نو څه حکم دی؟ **سوال**: (۷۰۰) دبشیر الدین دښځي او دهغه دمور جنګ وسو بشیر الدین دښځي دوهلو اراده وکړه چي بیا هغه وتښتیدله اوبل کور ته ولاړه کله چي دي په هغي پسي ورغی نو یوي ښځي ورته وویل چي ته په دي پسي ولي راغلی پرې یې ږده په دغه وخت کي بشیر الدین ښځي ته خطاب وکی او ویې ویل چي زه به تا ونه ساتم که مي ساتلي نوته به زما مور یې دری ځله یې وویل چي ته مي پري ښودي، نو شرعًا په دي باره کي څه حکم دی؟

جواب: په ذکر سوي صورت کي ده وویل چي زه به تا ونه ساتم دا استقبال دی او په استقبال سره طلاق نه واقع کیږي بلکه دطلاق وعده کیږي لکه چي علامه شامي لیکلي دي: بقوله انه وعد (۲) ددي څخه وروسته یې وویل چي ته زما مور یې دا خبره واضحه ده چي که یو سړي دخپلي منکوحي تشبیه دیوي ابدي محرمي سره وکړي مثلا ووایي چي انت علی کظهر امي نو په دي سره ظهار ثابتیږي او بیا دکفاري داداء کولو پرته وطی ناجائزه کیږي خو په ذکر سوي صورت کي دحرف تشبیه دنیستوالي له امله ظهار ثابت نه دی اودحرف تشبیه دنیستوالي په صورت کي کلام لغوه کیږي دلته ده وویل ته زما مور یې دا ترجمه ده دانت امي، دلته حرف دتشبیه ذکرنه دی نو دا کلام لغوه وګرځیدی کما في الدرالمختار ولا ینو شیئا او حذف الکاف وتعین الادنی ای البر یعني الکرامة (۳)ا دحذف دکاف مثال علامه شامي په: بان قال انت امي، سره ورکړی دی، وفي العالمګیریة لو قال لها انت امي لا یکون مظاهرا وینبغي ان یکون مکروها وفي البحر قیدها تشبیه لانه لو خلا عنه لان قال انت امي لا یکون مظاهراً لکنه مکروه لقربه من التشبیه وقیاسا علی یا اختیه المنهی عنه في حدیث ابي داؤد المصرح بالکراهة ولو لا التصریح بها لامکن القول بالظهار فعلم انه لابد في کونه ظهارا باداة التشبیه شرعا. انتهی (۴) البته داقول چي ته مي پري ښودي ترجمه د: سرحتك، ده او سرحتك دکنایي الفاظو په دریم قسم کي داخله ده او ددویم قسم حکم دادی چي په حالت دغضب کي بي

(۱) الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب الکنایات ج۲ ص۴۴۲. ط. س. ج۳ ص۳۰۳. ظفیر
(۲) وګورئ ردالمحتار باب تفویض الطلاق ج۲ ص۶۵۷. ط. س. ج۳ ص۳۱۹. ظفیر
(۳) الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب الظهار ج۲ ص۷۹۴. ط. س. ج۳ ص۴۷۰، ددي څخه وروسته داهم دی: وقوله انت امي ویا ابنتي ونحوه. ظفیر
(۴) البحر الرائق باب الظهار ط. س. ج۲ ص۹۸. ظفیر

له نیته هم طلاق وربانديي واقع کیږي: كما في فتاوى الشامية وفي الغضب توقف الاولان اى ما يصلح رداً وجوابا وما يصلح سبا وجوابا الخ بخلاف الفاظ الاخير ما يتعين للجواب فقط لانها وان احتملت الطلاق وغيره ايضا لكنها لما زال عنها احتمال الرد والتبعيد والسب والشتم اللذين احتملت حال الغضب تعينت الحال دالة على ارادة الطلاق فتوجع جانب الطلاق في كلامه ظاهراً فلا يصدق في الصرف عن الظاهر فلذا وقع بها قضاءاً بلا توقف على النية انتهى (۱) نو دا ثابته سوه چي په لفظ دپريښودلو سره دنيت پرته يو بائن طلاق واقع کیږي ترڅو چي تجديد دنکاح نه وي سوي جماع ورسره کول ناجائز دي.

ددوو رجعي طلاقو څخه وروسته يې وويل چي جواب دی نوڅه حکم دی؟ سوال: (۷۰۱) زيد خپلي ښځي هندي ته دوه رجعي طلاقه ورکړل او دواړه ځله هندي بخښنه وغوښتله په دي وجه يي رجوع وکړه دری کاله وروسته زيد تنگ سو او هندي ته يي دپلار کره دتللو دپاره وويل چي ته اوس زما دکار نه يي دهندي پلار پوښتنه وکړه چي زه هنده خپل کورته بوزم؟ زيد وويل بوېي ځه، دهندي پلار پوښتنه وکړه چي ستا له طرفه اوس جواب دی؟ زيد وويل چي جواب دی نو په دي صورت کي طلاق واقع سو اوکه نه؟

جواب: په حکم د: الطلاق مرتان، باندي زيد ته تر دوو طلاقو پوري درجوع حق وو او رجوع دواړه ځله صحيح سوه او دريم ځل چي زيد کم لفظ ويلی دی نو هغه کنايي لفظ دی په هغه کي په نيت دطلاق يا دلالة الحال سره طلاق واقع کیږي يعني په حالت دغضب يا مذاکري دطلاق کي طلاق واقع کیږي خو په دي صورت کي دلالة الحال نه دی موجود ځکه چي دښځي يا ددي دپلار له لوری دطلاق غوښتنه دطلاق په صريحو الفاظو کي نسته اونه حالت دغضب په پوښتنه کي ذکر دی نو ددي وجهي دزيد دنيت نه پرته په دی سره طلاق نه واقع کیږي نو که دزيد نيت دطلاق وو نو پرهنده دا دريم طلاق واقع سو او دامطلقه ثلاثه مغلظه سوه بي له حلالي زيد ددي سره نکاح نه سي کولای اوکه يي نيت دطلاق نه وو نو بيا هنده مطلقه ثلثه نه سوه او ددوی دنکاح تعلق قائم دی هکذا في الدرالمختار. (۲) فقط

وي باسه چيري يی چی زړه غواړي ولاړه دي سي، دا يی وويل نو طلاق واقع سو اوکه نه؟

سوال: (۷۰۲) يوه سړي دليك په واسطه خپلي مورته وليکل چي زما ښځه دکوره وباسه

---

(۱) ردالمحتار باب الكنايات ج۲ ص۶۴۵. ط. س. ج۳ ص۳۵۱. ظفير

(۲) فالكنايات لا تطلق بها الا بالنية او دلالة الحال الخ فنحو اخرجي واذهبي وقومي الخ (الدرالمختار على هامش ردالمحتار باب الكنايات ج۲ ص۶۳۵. ط. س. ج۱ ص۳۹۲). ظفير

او ماته ددي ضرورت نسته چي کمه خوا ددي زړه غواړي ولاړه دي سي زيد دا الفاظ يوه مفتي ته وښودل او دبينونت فتوی يي حاصله کړه او ددي ښځي سره يي نکاح وکړه ميړه دعوه وکړه خو اخر يي دهغه څخه تحريري طلاق حاصل کی نو دزيد مخکي نکاح صحيح ده اوکه نه تجديد دنکاح ضروري دی؟

جواب: که دي سړي دا الفاظ په نيت دطلاق نه وي ويلي لکه چي دده ددعوی کولو څخه ظاهريږي نو دطلاق څخه وروسته دي عدت تير کړي او بيا دي ددي سره نکاح وسي ځکه چي په دي صورت کي مخکی نکاح باطله ده: لان نکاح منکوحة الغير باطل، درمختار (۱) وشامي، قال الله تعالی: والمحصنات من النسآء، الآية. فقط

په غصه کيی يی: سرحتک او فارقتک وويل نوځه حکم دی؟ **سوال**: (۷۰۳) يوه سړي خپلي ښځي ته په سخته غصه کي سرحتك او فارقتك وويل ويونکي دعدد تصريح نه کوي خو ښځه او ددي مور ددری ځله ويلو اظهار کوي نو په دي صورت کي عدد لره څه دخل سته او که نه؟

جواب: په درمختار او نورو کي دي چي سرحتك او فارقتك هغه قسم دکنايي دی چي دغصي په حالت کي بي له نيت څخه په دوي سره بائن طلاق واقع کيږي اوپه حکم د: لا يلحق البائن البائن، درمختار، پرذکر سوي ښځه يو بائن طلاق واقع کيږي دويم او دريم طلاق چي په کنايي لفظ سره وي نو دا به پردي واقع نه وي او جديده نکاح داول ميړه سره په عدت کي او دعدت څخه وروسته صحيح ده دحلالي ضرورت نسته. درمختار اوشامي.

که دي داسي ونه کړل نو ازاده به يی، دايې وليکل خو نيت دطلاق نه وو نو څه حکم دی؟

سوال: (۷۰۴) هندي دخپل ميړه کره دتلو او اوسيدو څخه انکار کوی دزيد يوه قريب صرف دبيرولو په غرض لانديني الفاظ په يوه خط کي په خپل قلم وليکل او دزيد لاسليك يي ورباندي وکی او هندي ته يي وليږي: نن داګست د۱۷ کال ۱۹۲۲ تر پنځو ورځو پوري دزيد کورته راسه اوښه په خوشحالي واوسيږه کني ته به ازاده ګڼل کيږي، زموږ سره به دي څه تعلق نه وي خو هنده په پنځه ورځي کي دزيد کور ته رانغله اوس وايي چي زه طلاقه سوم نو آيا هنده طلاقه سوه او که نه؟ او زيد تصريح کوي چي زما نيت بالکل دطلاق ورکولو نه وو او نه په دي الفاظو ليکلو راضي وم.

جواب : په دي صورت کي دزيد ښځه طلاقه نه سوه ، ځکه چي اول خو زيد ددي الفاظو

(۱) اما نکاح منکوحة الغير فلم يقل احد بجوازه (ردالمحتا باب المهر ج۲ ص۴۸۲. ط. س. ج۳ ص۱۳۲). ظفير

دليکلو او په الفاظو درضا کيدلو ښځه منکر دی او دويم دادي چې دده نيت دطلاق نه وو او نه حالت دغضب او دمذاکري دطلاق وو چې دهغې په قرينه وقوع دطلاق وګڼله سي نو ددي وجهي په دي صورت کي پرهنده طلاق واقع نه سو. درمختار او شامي.

دنفقې دغوښتنې په جواب کې په پرېښودو ويلو سره طلاق واقع کيږي اوکه نه؟ سوال:

(۷۰۵) صرف دپرېښودو په لفظ ويلو سره دبينونت دقرينې پرته په وخت دغوښتلو دنفقي کي بائن طلاق واقع کيږي اوکه رجعي اوکه هيڅ هم نه واقع کيږي؟

(۲) کله چې هندي په حيثيت دمنکوحي دنفقي دعوه وکړه نو زوج ددعوي دترديد لپاره وايي چې ما پرې ايښې ده او دا حقداره دخرڅ نه ده دا ترديد دزوج چې پرانقطاع کلي باندي دال دی په بائن طلاق باندي اقرار لره متضمن دی او که نه؟

جواب: په درمختار کي دي چې: سرحتك وفارقتك، چې دهغو ترجمه ده ماته پرېښودي په هغه کناياتو کي دی چې دمذاکري دطلاق په وخت کي په دی الفاظو سره بي له نيته طلاق واقع کيږي او دمذاکري دطلاق معنی شامي دا ليکلي ده چې ښځه دطلاق پوښتنه وکړي چې ماته طلاق راکړه په دي الفاظوسره بي له نيت ښځه هم طلاق واقع کيږي يا يو بل سړي ميړه ته ووايي چې خپلي ښځي ته طلاق ورکړه نو دهغه په جواب کي ميړه ووايي چې ما پرېښودله نو په دغه وخت کي په دي لفظ سره بائن طلاق واقع کيږي او دنفقي دطلب په جواب کي طلاق نه واقع کيږي: فتفسير المذاکرة بسوال الطلاق او تقديم الايقاع.

ته يوځای ولاړه سه په دي ويلو کی که دطلاق نيت وي نو طلاق واقع کيږي او په اغلام بازي (يعني دشا له لوري په وطی) کولو سره طلاق نه واقع کيږي: سوال: (۷۰۶) دوې سکه خوندي دي ديوي واده دزيد سره وسو او ددويمي واده دعمر سره وسو عمر دخپلي ښځي سره اغلام بازي کوله دهمدي وجهي ددوی په مينځ کي خفګان راغی او عمر خپلي ښځي ته وويل چې ته يوځای ولاړه سه زه ستا هيڅ پروانه لرم نو دا دخپلي خور کور ته راغله او دزيد سره يي ناجائز تعلق جوړ سو او بچي يي پيدا سو نو آيا عمر چې خپلي ښځي ته کم الفاظ ويلي دي په هغو سره طلاق واقع سو اوکه نه؟ او دشا له لوري په جماع کولو سره نکاح فسخ سوه اوکه نه؟

جواب: که عمر ذکر سوي الفاظ دطلاق په نيت ويلي وي نو دده پرښځه بائن طلاق واقع سو اوکه عمر ووايي چې زما په دي الفاظو سره نيت دطلاق نه وو نو دده پرښځه طلاق نه دی واقع او په اغلام بازي کولو سره نکاح نه فسخ کيږي دزيد نکاح اوس هم قائمه ده. (خوداسي سړي چې پراغلام قادر وي اودښځي سره پرجماع قادر نه وي نو دا فقهاوو

دعنين په حکم کي ليکلي دی. ظفير)

خپله لور چي کم ځای دي خوښه وی وربی کړه زه ضرورت نه ورته لرم، که يي دطلاق په نيت ويلي وي، طلاق واقع کيږي: **سوال:** (۷۰۷) زيد دجدايي په وخت کي خپل خسرته وويل خپله لور چي دي کم ځای خوښه وي هلته يي ورکړه زما توبه ده او زه هيڅ ضرورت ستا لورته نه لرم نو په دي صورت کي دزيد پرښځه بائن طلاق واقع سو اوکه نه؟

جواب: (اقول وبالله التوفيق) ظاهره داده چي په دي صورت کي که ميړه ذکر سوي الفاظ دطلاق په قصد او نيت ويلي وي نو دده پرښځه يو بائن طلاق واقع سو اوکه داسي نه وي نو نه دی واقع، ځکه چي ذکر سوي الفاظ په اولو دوو قسمونو کي دی اوپه دريم قسم کي نه دی چي په هغه کي په حالت دغضب او دجګړي کي بي له نيت څخه طلاق واقع کيږي ځکه چي دريم قسم الفاظ سرحتك، فارقتك، انت واحدة، انت حرة، وغيره دي او الفاظ دحلية، برية، حرام، بتة، بتلة دا ټول په دويم قسم کي دي اوپه شامي کي دخانيي څخه نقل دی: اذهبي فتزوجي وقال لم انو الطلاق لا يقع شيء الخ ([1]) وفي شرح الجامع ولا فرق بين الواو والفاء ويؤيده ما في الذخيرة اذهبي وتزوجي لا يقع إلا بالنية الخ ردالمحتار ([2]). فقط

مور ددي ساتلو ته ضرورت نه لرو، څه اړيکه نسته، په دي ويلو سر په نيت سره طلاق واقع کيږي: **سوال:** (۷۰۸) يوه سړي خپلي ښځي ته دا وويل چي موږ ته ددی دساتلو ضرورت نسته او ددي سره زموږ څه اړيکه نسته نو په دي صورت کي طلاق واقع سو اوکه نه؟

جواب: دا الفاظ چي کم ذکر سوي سړي خپلي ښځي ته ويلي دي کنايي دی او دصريح طلاق الفاظ نه دي نو په دي کي که قرينه دطلاق نه وي دميړه څخه دي معلومات وکړل سی که دميړه نيت په دي الفاظو سره دطلاق وو بائن طلاق دده پرښځه واقع سو اوکه نيت دطلاق نه وو نو طلاق واقع نه سو ([3]) درمختار شامي.

چي کم ځای دي خوښه وی واده وکړه، په دي ويلو سره به په شرط دنيت طلاق واقع وي:

سوال: (۷۰۹) دکوچني هندي پلار ددي نکاح ديوه ډير عمر لرونکي سړي سره وکړه او هنده خپل ميړه زيد ته واده سوه خو دښځي او دميړه په عمرکي لوي فرق وو نو جنګ شروع سو څو ورځي وروسته زيد رنګون نومي ځای ته ولاړی او هنده يي دمور او پلار

([1]) ردالمحتار باب الکنايات ج۲ ص۷۵۲ ط. س. ج۳ ص۳۱۴. ظفير

([2]) ردالمحتار باب الکنايات ج۲ ص۷۵۲. ط. س. ج۳ ص۳۱۴. ظفير

([3]) فالکنايات لا تطلق بها الا بنية او دلالة الحال فنحو اخرجي واذهبي وقومي الخ (الدرالمختار ج۲ ص ۷۳۵. ط. س. ج۳ ص۲۹۲). ظفير

کره پرېښوده کله چې هغه څه خبر نه اخيستی نو ښځې خط ورته وليکی چې که راځې راسه اوکه نه راځې نو صفا صفا وليکه چې زه بل ځای واده وکړم، زيد دخپلې خواښې په نوم خط وليکی چې زه نه درځم ددې چې هر ځای چې خوښه وي واده دي وکړي نو په دې الفاظو سره طلاق واقع سو اوکه نه؟ څو ورځې وروسته دزيد وراره هنده راوستله او زيد ته يې خط وليږی هغه هم درنګون څخه راغی دخپلې ښځې سره يوځای سو څو ورځې وروسته بيا جګړه شروع سوه هندې خپل ورور او نورو ته خبر ورکی هغوی په يوه طريقه هنده دمېړه دکور څخه را وايستله اوس هنده دزيد کورته په تلو نه رضا کېږي او زيد ددې په بيلولو او ددې سره په خلع کولو نه دی راضې هندې زيد ته پيغام وليږی چې تا په خط کې ليکلې وه چې کم ځای دې خوښه وي هلته واده وکړه زه خپله نکاح کوم زيد جواب ورکی چې ماپه غصه کې ليکلې وه هندې دعمر سره نکاح وکړه نو دا نکاح شرعا صحيح ده اوکه نه؟

جواب: دزيد دا الفاظ چې کم ځای دې خوښه وي واده وکړه کنايې طلاق دې چې په هغه سره په صورت دنيت کې طلاق واقع کېږي نو په ذکر سوي صورت کې که يې ذکر سوي الفاظ په نيت دطلاق ويلي وي نو پرهنده بائن طلاق واقع سو او ددې نکاح دعمر سره صحيح سوه خو که دزيد نيت دطلاق ورکولو نه وو بلکه ده ددې څخه انکار کوی نو دا الفاظ بې کاره دې هنده هم دده په نکاح کې ده (¹) او چې کمه نکاح يې دعمر سره وکړه هغه صحيح نه ده که په هر ډول وي دزيد څخه دې اول طلاق واخستل سي اويا دې دا معامله قاضې ته وړاندې کړل سي هغه ديوه شافعي المسلك قاضې په ذريعه په دوی کې تفريق کولای سي، ځکه چې دنفقې دنه ادا کولو په صورت کې حنفي قاضي تفريق نه سي کولای خوکه دې په يو داسې حاکم باندې چې دهغه په مذهب کې تفريق وي حکم وکړی نو دهغه فيصله دحنفي المذهب زوجينو په اړه نافذه ده.

دا بوزه او ددې سره نکاح وکړه که يې دطلاق په نيت ويلي وي نو طلاق واقع سو: **سوال**:

(۷۱۰) يوه سړي خپله ښځه دخپل مينځې جګړې په وجه ديوه پردې سره وليږله او دايې وويل چې دا زموږ وږ نه ده ته دا بوزه او ددې سره نکاح وکړه او يايې بل چاته وږ په نکاح کړه نوپه دې صورت کې ددې ښځې دويمه نکاح جائز ده اوکه نه؟

جواب: دمېړه څخه دې پوښتنه وسي چې که ده دا په نيت دطلاق ويلي وي نو دده ښځه بائنه طلاقه سوه او دعدت څخه وروسته يې دبل چا سره نکاح صحيح ده (²) درمختار.

(¹) لو قال لها اذهبي فتزوجي تقع واحدة اذا نوي (عالمگيری مصري ج۱ ص۳۷۲). ظفير

(²) ولو قال ابعدي عني و نوی الطلاق (عالمگيري مصری ج۱ ص۳۷۲) ظفير

زما دطرف څخه اجازه ده وې ساته، يا عقد ورلره وکړه، دا يې وليکل نو طلاق به وي اوکه نه؟ **سوال**: (۷۱۱) ميړه په دوو خطونو کي دخپلي ښځي په باره کي دا الفاظ وليکل چي زما دطرف څخه اجازه ده چي څه دي طبعيت وي هغه وکړه که په خپل کورکي يي ساتي اوکه يي په بل ځای کي عقد کوي نو په دي صورت کي دښځي لپاره څه حکم دی؟

جواب: دا الفاظ چي ميړه په دوو خطونو کي ليکلي دي دصريح طلاق الفاظ نه دي بلکه دکنايي طلاق الفاظ دي نيت ته پکښي ضرورت دی نوکه ميړه په نيت دطلاق دا الفاظ ويلي يا ليکلي وي نو يو بائن طلاق په دي صورت کي واقع سو او دنيت حال دی دميړه څخه صفا معلوم کړل سي چي ايا ستا په دي طلاق ورکولو سره نيت دطلاق وو او که دي څه مطلب وو، كذا في الدرالمختار.

ته ازاده يې، دا يې دوه ځله وويل نوکم طلاق واقع سو؟ **سوال**: (۷۱۲) يوه سړي په غصه کي خپلي ښځي ته په اول وار وويل: ته زما څخه ازاده يې، اوپه دوهم ځل يي وويل چي: ځه ته زما څخه ازاده يي اودريم ځل يي وويل: ته زما څخه ازاده يې، نو په دي صورت کي کم طلاق واقع سو او صرف په تجديد دنکاح سره به حلاله سي اوکه حلاله شرط ده په دي پوښتنه باندي ديوه مولوي صاحب جواب ليکل سوی وو چي دهغه څخه ددريو طلاقونو وقوع په نظر کي راځي، ستاسو څه رايه ده؟

جواب: په دي صورت کي دبنده په نزد يو بائن طلاق دده پرښځه واقع سو لکه څنګه چي په درمختارکي دي: انت حرة (ته ازاده يي) دکناياتو دهغه قسم څخه دی چي په هغه کي په حالت دغصي کي بي له نيت څخه بائن طلاق واقع کيږي او ددي څخه وروسته چي ميړه کم الفاظ دکنايي ويلي دي نو پرهغو باندي د: لا يلحق البائن البائن، په حکم نوی طلاق نه واقع کيږي ددرمختار عبارت دادی: انت واحدة انت حرة الخ وفي الغضب توقف الاولان الخ ولا يتوقف ما يتعين للجواب الخ شامي ج۲ ص۴۲۵، اقول وانت انت حرة للجواب.

دا زما دمصرف وړ نه ده په دي جمله کي دطلاق نيت ته اعتبار دی: **سوال**: (۷۱۳) زيد تقريبا لس ورځي کيږي چي دخپلي ښځي څخه خفه دی څو سړي دخفګان دمينځه وړلو لپاره راجمع سول او زيد ته يي وويل چي ته خپله ښځه بوزه زيد جواب ورکی او وې ويل چي دا زما دمصرف وړ نه ده او زه دا نه بيايم، او زه طلاق هم نه ورکوم نو په دي صورت کي شرعي طلاق واقع کيدای سي اوکه نه؟

جواب: په دي صورت کي که زيد دطلاق نيت نه وي کړی لکه څنګه چي دده دخبري، چي زه طلاق نه ورکوم، څخه ښکاره کيږي نو دده پرښځه طلاق واقع نه دی ځکه چي کم

الفاظ زيد ويلي دي هغه صريح الفاظ نه دي بلکه کنايي دي چي په هغو کي دنيت يا ددلالة الحال ضرورت دی او دا دواړه صورتونه دلته نسته بلکه دا خو هغه الفاظ دي چي په دي سره دغصي په حالت کي يا دطلاق په يادونه کي هم طلاق نه واقع کيږي.

ما دخپل زوجيت څخه وايستله، په دې ويلو سره طلاق واقع کيږي: **سوال**: (۷۱۴) يوه سړي خپلي ښځي ته وويل چي ته ما دخپل زوجيت څخه بيله کړي دنن څخه ته زما ښځه نه يي ستا سره به زموږ جوړښت نه وي نوښځه بيله سوه اوپنځه شپږ مياشتي وروسته يي ددي ښځي سره بيا نوي نکاح وکړه ددي وجهي په پخواني قول سره طلاق واقع سو اوکه نه؟

جواب: که ذکر سوي الفاظ ميړه په نيت دطلاق ويلي وي نو په دي سره بائن طلاق واقع کيږي او دوهم وار نکاح ددي سره صحيح ده ځکه نو مذکوره نکاح صحيح ده او دنکاح څخه وروسته صحبت ددي سره جائز دی: کما في الدرالمختار: لا يلحق البائن البائن (۱) الخ.

په لاندي ذکر سوي صورت کی طلاق واقع سو اوکه نه؟ **سوال**: (۷۱۵) دسوال لنډيز دادی چي يوه ورځ دښځي او دميړه جنګ سو ميړه خپلي ښځي ته وويل زما او ستا جوړه به ونه سي خپل مهر دي واخله او دمور او پلار کره دهميشه لپاره اوسيږه بيا به زما او ستا تعلق پاته نه وي ددي څخه وروسته نه دښځي دبيولو لپاره راغی اونه يې خرڅ او خوراك ورکی؟

(۲) دښځي دخرڅ دغوښتلو په وخت کي يي دا وويل چي زما اوستا څه تعلق دي؟

(۳) ميړه په خبرو کي خسر ته ويل چي فيصله به داسي وي چي يا خو ته زما ښځه زما سره کړه اويا زما څخه طلاق واخله خسر وويل زه بس داغواړم يعني طلاق غواړم نو ده وويل ښه دی پري مي ښودله، ددي څخه وروسته دطلاق ليکنه وسوه چي داستفتاء سره منښتی ده په دي صورت کي کم طلاق واقع سو؟ رجوع کيدای سي اوکه نه؟ اوښځه چي حامله ده نو عدت ددي به وضع دحمل وي اوکه نه؟ او دتيرو سوو ورځو نفقه دميړه پرذمه ده اوکه نه؟

جواب: په دي صورت کي دده پرښځه يو بائن طلاق واقع سو يعني په (۳) نمبر سوال کي چي ميړه دخسر ددي خبري چي زه بس دا غواړم يعني طلاق غواړم په جواب کي وويل: ښه دی څه دا مي پرې ښودله په دي لفظ سره يو بائن طلاق واقع سو، ځکه چي دا لفظ دطلاق دطلب څخه وروسته ويل سوی دي نو دا دطلاق دمذاکري څخه وروسته وويل

(۱) الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب الکنايات ج۲ ص۷۲۴. ط. س. ج ۳ ص۳۵۸. ظفير

سو چي موجب دوقوع دطلاق دی، درمختاور (1) په خلاف د ۱، ۲ نمبر ځکه چي هلته هيڅ قرينه او دلالة الحال دوقوع دطلاق نسته او دميرہ نيت هم دطلاق نه وو لکه څنګه چي دټول تحرير دکتلو څخه معلوميږي او بيا چي کم تحرير دطلاق وليکل سو نو هغه هم دمخکي طلاق دخبر ورکولو په طريقه سره وو نو ددي وجهي په دي سره دوهم طلاق واقع نه سو غرض دا چي رجوع په دي کي جائزه نه ده (2) خو په نوي مهر او په رضا دفريقينو دوهمه نکاح کيدای سي او عدت ددي وضع دحمل ده او دتيري سوی زماني نفقه واجبه نه ده البته دعدت نفقه دميرہ پرذمه ده. فقط

ما ستا صفايي وکړه يي وويل او بيله يي کړه نو طلاق واقع سو اوکه نه؟ سوال: (۷۱۲)

دسوال خلاصه دا ده چي زيد دخپلي ښځي کالي واخيسته او ورته وي وويل چي اوس مورِ ستا صفايي وکړه، ددي څخه يي مطلب دا دی چي دخپل زوجيت څخه مي وايستلي دزيد ښځه دمور اوپلار کره راغله اوس نهه کاله وروسته دزيد دعوه ده چي ما تاته طلاق نه دی درکړی نو زيد شرعاً هغه بيولای سي اوکه نه؟

جواب: که زيد داسي وو ايي چي زما نيت په دي الفاظو سره دطلاق نه وو نو دده قول به معتبر وي او دده پرښځه به طلاق واقع نه وي او دي هغه ساتلای سي. (3)

قد تم الجزء التاسع من فتاوٰی دارالعلوم ديوبند

كمپوزنګ

المولوي الحافظ نور احمد النوراني الحقاني

العلم كمپيوټرز ، كوئټه

تاريخ الاختتام

الاربعاء، ۲۱ شعبان، ۱٤۳۰

مطابق

WEDNESDAY, AUGUST ۱۲, ۲۰۰۹

---

(1) وګورئ: الدرالمختار على هامش ردالمحتار باب الكنايات ج۲ ص۷۳۸. ط. س. ج۳ ص۳۹۹. ظفير
(2) ويقع بباقيها الخ البائن ان نواها (ايضا ج۲ ص۷۴۲. ط. س. ج۳ ص۳۰۲ – ۳۰۳). ظفير
(3) والقول له بيمينه في عدم النية (الدرالمختار باب الكنايات ج۲ ص ۷۴۵. ط. س. ج۳ ص۳۰۰). ظفير

فتاوی دارالعلوم دیوبند

مدلل و مکمل

پښتو

۱۰



دموجوده وخت په دار الافتآء کې دمروجه نسخو مطابق، دنوي تخريج سره اعلیٰ کمپوټري چاپ

فتاویٰ دار العلوم دیوبند

مدلل و مکمل

په آسانه او روانه کندهاري پښتو

لسم جلد ⑩

کتابُ الطّلاق (نصفِ آخر)

تاليف: مفتی اعظم عارف بالله حضرت مولانا مفتی عزیز الرحمٰن صاحب عثمانی
((ددار العلوم ديوبند اول مفتی))

په لار ښوونه د: حکیم الاسلام حضرت مولانا قاري محمدطیّب صاحب (مهتمم دارالعلوم دیوبند)

مرتب: مولانا محمد ظفير الدين صاحب، رفیقِ شعبۂ ترتیبِ فتاویٰ دار العلوم دیوبند

اضافه تخريج جديد: مولانا مفتی محمد صالح، رفیقِ دارالافتآء جامعة اسلامیه، بنوری ټاؤن کراچی

ژباړه ، تعليق او تحقيق: مولانا الحافظ محمّد أحمد الحقاني الأفغاني، فاضلِ حقانیه، پشاور

زيرِ نګراني: شيخ الحديث حضرت مولانا الشيخ عبد القادر النهر كاريزي (دامت بر كاتهم العالية)

مکتبه حبیبیه

کاسی روډ، کوئټه : 0812662448

al-ilmcorp@hotmail.com

لومړی چاپ

۱۴۲۹ شعبان \ اګست 2008

Maktabah Habibiyah	مکتبه حبیبیه
Publishing Organization	خپروندویه ټولنه

Arg Bazar, Kandahar, Afghanistan. Mob : 0799447413 : ارګ بازار کندهار ، افغانستان ، ګرځنده تليفون
Kasi Road, Quetta, Pakistan . Phone : 0812662448 : کاسي روډ ، نزد مسجد نور ، کوئټه ، تليفون شميره
AL-ILM Computers, Quetta. Mob: 03218016371 :العلم کمپيوټرز، کوئټه پاکستان، ګرځنده تليفون شميره

دفتاوی دار العلوم دیوبند مدلّل او مکمل (پښتو) دمضامینو فهرست، جلد ⑩

دلسمی حصې فهرست ختم سو



بسم الله الرحمٰن الرحيم

الحمد لله وكفٰى وسلامٌ علىٰ عباده الذين اصطفىٰ.

دفتاوى دار العلوم ديوبند لومړی جلد خاكسار مرتب او محشي په كال ۱۳۸۲ هجري سپوږميز كي وړاندي كړی وو، تردې وروسته په لږ ځنډ سره وروسته نور جلدونه هم وخت په وخت حاضريده ، دالله ﷻ په لكونو لكونو انعام او احسان دی چي نن ورځ يې لسم جلد وړاندي كيږي، له دې امله دخاكسار مرتب او محشي زړه دڅښتن ﷻ دحمد او شكر څخه ډك دی او دخپل بې نيازه رب په وړاندي پر سجده دی چي په توفيق سره يې دا خدمت سرته ورسيدی او ان شاء الله په راتلونكي كي به هم سرته رسيږي.

دالله ﷻ څخه دعا ده چي په خپل فضل او كرم سره دا خدمت قبول وګرځوي او په خپلو شكر ګذارو بندګانو كي ددې حقير نوم هم ورګډ كړي.

دا ټول په اصل كي ددار العلوم ديوبند فيض دی چي ديو سل او څوارلس ۱۱۴ كالو راهيسي په پرلپسې ډول دكتاب او سنت ، ملك او ملت په هر اړخيزو خدماتوكي بوخت دی، خدای ﷻ دي وكړي چي ترقيامته پوري دهغه دا بې پايانه سمندر څپو وهونكی وي، او انساني نړۍ ورڅخه برخه منده وي.

دلته په رارسيدو سره بې اختياره دقلم پر ژبه باندي دخپل مرشد اوتربيه كوونكي حكيم الاسلام قاري محمد طيب صاحب دامت بركاتهم ګران نوم پر ژبه باندي راځي، چا چي په لومړي ځل ددې خوږ خدمت دپاره ددې خاكسار نوم وټاكی اودخپل اعتماد ښكارندويي يې وكړه، الله ﷻ دي صحت او سلامتيا او اوږد عمر وروبخښي، اوهم دي ورته دهغه دنيك ګمان نيكه بدله وركړي، او دفتاوىٰ چي كمه برخه پاته ده، په ښه توګه سره دهغه دپوره كولو لپاره دي هم توفيق راوبخښي، وما ذٰلك على الله بعزيز.

دفتاوی مهمه او اړينه برخه په دې جلد سره پوره سوه، ځكه چي دعامو خلګو چي كمه خوښي او لېوالتيا دضرورت دمسئلو سره وي لكه پاكي، لمونځ، روژه، حج، زكوٰة، نكاح او طلاق دنورو بابونو مسئلې ورته دومره په زړه پوري نه وي.

ښكاره ده چي دطلاق مسئلې په خپل ځان كي ډيره نازكتيا لري، او نتيجې يې تر ډيره پوري رسيدونكي وي، له دې امله دمسلمانانو فريضه ده چي هغوی دطلاق په استعمال كي دپوره احتياط او وېښ دماغ څخه كار واخلي، پر معمولي غوندي خبرو او يا خفګان باندي ددې لفظ اويا دې ته ورته دنورولو لفظونو دويلو څخه دي ډډه وكړي.

نكاح ددې لپاره نه تړل كيږي چي هغه ماته سي، بلكه مقصد يې په خپل مابينځ كي يو

تر بله محبت، الفت، مینه او دوستي او دزړه اطمینان وي، الله ﷻ فرمايي:
وَمِنْ آيَاتِهِ أَنْ خَلَقَ لَكُمْ مِنْ أَنْفُسِكُمْ أَزْوَاجًا لِتَسْكُنُوا إِلَيْهَا وَجَعَلَ بَيْنَكُمْ مَوَدَّةً وَرَحْمَةً (سورة الروم ، رکوع: ۳).
ژباړه: او دهغه ﷻ دنښانیانو څخه دا دي چي پیدا کړي يې دي ستاسي دپاره ستاسي دقسمه څخه جوړه، چي آرام حاصل کړئ په هغو سره، او اینښی يې دی ستاسي په مابینځ کي يې مینه او محبت.
لیکن دا هم صحیح ده چي کله ناکله دطبیعتونو دنابرابروالي له امله حالات ترینګلي سي او په ښکاره باندي بیا یوځای سره اوسیدل ګران سي، بل لوري ته بیا دا حقیقت هم پرخپل ځای باندي منل سویدی چي اسلام نه طلاق خوښوي اونه دطلاق ورکوونکي حوصله افزائي کوي، بلکه دا کار ناخوښه بولي ، او دازدواج دتړون دماتولو او پرېکولو څخه دخلاصون لپاره په داسي تدابیرو باندي دعمل کولو تایید کوي چي له لاري يې خپل مینځي غلط فهمیاني لیري سي او ددواړو لورو تعلقات په خپل مابینځ کي محکم سي.
دنر او ښځي په خپل مینځي ژوند کي درئیس حیثیت اسلام ونارینه ته ورکړیدی، له دې امله داختلاف په وخت کي وزوج دالله ﷻ لار ښوونه ده:
وَاللَّتِيْ تَخَافُونَ نُشُوزَهُنَّ فَعِظُوهُنَّ وَاهْجُرُوهُنَّ فِي الْمَضَاجِعِ وَاضْرِبُوهُنَّ فَإِنْ أَطَعْنَكُمْ فَلا تَبْغُوا عَلَيْهِنَّ سَبِيلاً (سورة النساء، رکوع: ٦)
ژباړه: او دکومو ښځو چي دبدخویی بیره وی تاسی ته نو دوی پوهوی اوجلا کوی يې په بیده کېدوکی اووهی دوی بیاکه خبره ومنی ستاسی نومه لټوی پردوی باندی لار دالزام.
په لومړۍ مرحله کي به دګټي او تاوان او دمعاملو دپوهاوي او ښووني کوشش وکړه سي او دژوند دبېړۍ پر سیده لاره باندي دسمولو مخلصانه هڅه دي وکړل سي، په دې هڅو کي باید ددې خبره پوره پاملرنه وسي چي دملګري احساسات غوځ پرې نه کړل سي
په دوهمه مرحله کي پکار ده چي زوج خپل دزړه آزار او دزړه ماتوالی په دې ډول ښکاره کړي چي خپله بستره دي بیله کړې، ترڅو چي دژوند ملګری دخپل زیاتی او بې ځایه ضد احساس کولو ته اړ سي.
تر ټولو په وروستنۍ په مرحله کي زوج ته دمعمولي سرزنش واك ورکول سویدی ، په عمومي ډول دانساني طبیعتونو همدغه درې درجې وي، په دې مرحلو کي چي په هره

یوه باندي مقصد ترسره سو او صلح او صفائي مینځ ته راغله نو دخدای ﷻ شکردي ادا کړې او دا ارزښتناکه ترون چي داسلام په نامه ترسره سوی دی، هیڅکله دي پرې کیدو ته پرې نږدي.

که چیري زوج په ذاتي ډول په خپلو تدبیرونو کي ناکامه سي نو ددوی دواړو (زوج او ښځي) دخپلو خپلوانو فریضه ده چي دوی سره یو موټی سي او دخدا ترسی په وسیله باندي ددوی دمینځني معاملو دښه کولو لپاره نه ستړي کیدونکي کوشش وکړي.

وَإِنْ خِفْتُمْ شِقَاقَ بَيْنِهِمَا فَابْعَثُوا حَكَمًا مِنْ أَهْلِهِ وَحَكَمًا مِنْ أَهْلِهَا إِنْ يُرِيدَا إِصْلَاحًا يُوَفِّقِ اللهُ بَيْنَهُمَا إِنَّ اللهَ كَانَ عَلِيمًا خَبِيرًا (سورة النساء ، رکوع : ٦).

ژباړه: اوکه تاسی بیریداست چي دوی دیوه او بل سره ضد ساتی نو ودروی یو انصاف داره دنارینه دطرفه څخه اویو انصاف داره دښځی دطرفه څخه، که دوی دواړه غواړی چی اصلاح وکړی نو الله ﷻ به موافقت پیدا کړی په دواړو کی، بیشکه الله ﷻ په هرڅه باندی پوه خبردار دی.

لنډه دا چي هر ډول ممکن کوشش دي وکړل سي ترڅو چي کم ترون سوی دی هغه مات نه سي، دښځو په معامله کي دنبي کریم ﷺ دا ارشاد هم خپل مخ ته ایښوول پکار دي چي پکښي دښځو دمزاجي کیفیت څرګندونه سویده، رحمتِ عالَم ﷺ فرمایي:

استوصوا بالنساء خیرا فانهن خلقن من ضلع وانه اعوج شيء في الضلع اعلاه فان ذهبتَ تقیمه کسرتَه وان ترکته لم یزل اعوج فاستوصوا بالنساء (بخاري باب الوصاة بالنساء).

دښځو سره دښه چلند کولو لار خپله کړئ ، ځکه چي دوی له پښتۍ څخه پیدا سویدی او ترټولو زیات کوږوالی په لومړۍ پوښتۍ کي وي، که ته ددې دسیده کولو هڅه وکړې نو ماته به یې کړې اوکه یې همداسي پرېږدي نو هم هغه کوږوالی به پکښي باقي پاته وي ، له دې امله دښځو سره ښه چلند خپل کړئ .

نویو څېړنو هم ثابته کړیده چي دښځي پلې (عضلات) دنارینه ؤ دپلو (عضلاتو) په نسبت کمزوري دي ، او همدغه توپیر دنارینه او ښځي په دماغ او عقل کي هم سته ، بله دا چي په ښځه کي دانفعال او جذباتو ماده زیاته ده ، چي له امله یې دا دتنګ مزاجی ژر ښکار کیږي په دې کي دښځي دبدني جوړښت هم لویه ونډه ده. دنارینه په لاس کي دطلاق دواك ورکولو په وجوهو کي دا وجه هم یاده سویده ترڅو دطلاق اوبیلوالي خبره ډیر لږه پیښه سي ، په دې اړه دي دزیات تفصیل لپاره دخاکسار کتاب (داسلام نظام دعفت او

عصمت په اړه) مطالعه کړل سي.
دا خبره یاد ساتل پکار دي چي بې له کمي وجهي طلاق ورکول دسزا دلائق ګرځیدلو وړ کار دی، امام ابو حنیفه ﷺ خو مکروهِ تحریمي ګڼلی دی، او داسلام ټولو علماؤ په اتفاق سره دطلاق دبې ځایه استعمال څخه په ټینګه سره منع کړیده. په اوسنۍ زمانه کي چي عام وګړي دطلاق کم استعمال کوي هغه سرار غلط او دشرع داصولو خلاف دی ، لومړی دعلماؤ څخه ددې په اړه معلومات ترلاسه کول پکار دي چي طلاق ورکول په کمو کمو حالتونو کي روا دي ، دتلواري څخه هیڅکله هم کار اخیستل نه دي پکار .
خدای مکړه که یو وخت طلاق ورکول اړین سي او له دې پرته بله هیڅ چاره نه وي نو په دې وخت کي دي یوازي یو طلاق ورکړي او ایله دي کړي ترڅو چي عده یې تیره سي ، او طلاق په داسي وخت کي ورکول پکار دي کله چي ښځه دحیض له ورځو څخه ووزي او دپاکی (طهارت) په ورځوکي داخله سي، اودپاکي (طهارت) په دې موده کي زوج یوځای والی نه وي کړی:
فالاحسن ان يطلق الرجل امرأته تطليقة واحدة في طهر لم يجامعها ويتركها حتى تنقضي عدتها لان الصحابة كانوا يستحبون ان لا يزيدوا في الطلاق على واحدة حتى تنقضى العدة (هدايه ج۲ ص۳۳٤).

ژباړه: ترټولو غوره داده چي سړی ښځي ته یو طلاق ورکړي په پاکي کي په داسي حال کي چي په همدې طهر (دپاکي په موده) کي یې کوروالی نه وي کړی او بیا یې پریږدي ترڅو چي عده یې تیره سي ، ځکه چي صحابهٔ کرامو ﷺ دا خوښوله چي په طلاق کي تر یوه زیات والی را نه سي تردې چي عده یې تیره سي .
په دې طریقه کي ددواړو لورو ګټه ده ، دښځي ګټه داده چي دعدې ورځي به یې کمي وي ، او دنارینه ګټه داده چي دعدې په دوران کي درجوع کولو حق به ورته حاصل وي برابره خبره ده که ښځه راضي وي اوکه نه وي، او دعدې دپوره کیدلو څخه وروسته بیا ښځه دخپلي خوښی سره سم نوی نکاح کولای سي.
دحیض په حالت کي دطلاق ورکولو څخه منع سویده او دا ګناه او بدعت ګڼل سویدی ، همدا ډول درو طلاقو ورکولو ته هم معصیت ویل سویدی او ددې څخه هم منع سویده ، دنبي کریم ﷺ په زمانه کي چي کله یو سړی خپلي میرمني ته درې طلاقه ورکړل او بیا دا خبر سرورِ کائنات رسول الله ﷺ ته ورسیدی نو ډیر په قهر سو او ویې فرمایل:

ایلعب بکتاب الله وانا بین اظهرکم (دارقطني).

ژباړه: آیا هغه په داسي حال کي چي زه ژوندی یم په کتاب الله سره لوبي کوي.

زما پوره امید دی چي دشریعت دا خبره به تر عوامو پوري ورسیږي او عام وګړي به په دې باره کي دپوره احتیاط او خدا ترسی او ژور فکر څخه کار واخلي.
دا عرض کول هم ضروري ګڼم چي دانساني تقاضاوو له امله که یو ځای کمه غلطي پاته سوی وي نو لوستونکي مو دي بې له ځنډه خبر کړي ترڅو په راتلونکي چاپ کي دهغه اصلاح وکړل سي، په آخرکي دخپلو استاذانو، دشعبي دمشر اوغړیو، اودشورٰی دمجلس (دامت برکاتهم) په لوړ خدمت کي دتشکر او احسان ډالی وړاندي کول خپله فریضه ګڼم چي ددوی په پاملرنو، دعاوو او مرسته سره دا خدمت پای ته رسیږي ، الله تعالی ﷻ دي دا کوچنی خدمت قبول کړي او دخاکسار ترتیب کوونکي لپاره دي دآخرت توښه وګرځوي. ربَّنا تقبَّل منا انك انت السمیع العلیم.

ددعا غوښتونکی:

مُحمَّد ظَفِیْرُ الدّین غفرله

دفتاوی دار العلوم دیوبند ترتیب کوونکی

۱۱\ محرم\ کال ۱۳۹۷ هـ ق



پنځم باب

دتفویض بیان او ددې متعلق احکام او مسائل

دطلاقو تفویض: **سوال**: (۲۰۷) عبدالله دهندی سره په لاندینی شرطونو نکاح نامه وکړه او دایې ولیکل چی که زه ددی شرطونو خلاف وکړم نوهندی ته ددری طلاقو اختیار دی، نودنکاح څخه وروسته عبدالله دځو شرطونو خلاف کار وکړ، نوپه دی بناء هندې خپل ځان ته دری طلاقه ورکړل، اودعدی څخه وروسته یې دزید سره نکاح وکړه نودا نکاح صحیح ده اوکه نه؟ اودهندی اول خاوند اوځه وګړي وایی چی عهد نامه یی ددروغو جوړه کړیده اوهنده او دهندې پلار وایی چی عهد نامه صحیح ده، نوپه زید پسی لمونځ صحیح دی اوکه نه؟ اوپر زید څه ګناه سته اوکه نه؟

جواب: که دوه عادل شاهدان وی علاوه دهندی او دهندی دپلار څخه دعهد نامې پر شرائطو باندی نودری طلاقه پرهندی باندی واقع سوه (۱) ، اودوهمه نکاح دزید سره صحیح ده اوپه زید پسی لمونځ صحیح دی اوپر زید څه ګناه نسته. فقط

که تر دومره ورځو پوری خبر وانه خلم نو تاته دطلاق دواقع کولو اختیاردی په دی شرط نکاح وسوه نوڅه حکم دی؟ **سوال**: (۲۰۸) زید دهندی سره په دی شرط نکاح وکړه چی که زه تر شپږو میاشتو پوری ستا څخه جدا واوسم اوپه دی کی ستا نان اونفقه اداء نه کړم نوتاته ددری طلاقو اختیار دی نوددی وجه وروسته دوجود شرط څخه که ستا مرضی وی نوته خپل ځان طلاق کړه اوبله نکاح وکړه نوپه دی صورت کی به ښځی ته اختیار وی دطلاقو اوکه نه؟ داشرط دښځی دجانبه وو، نوکه ددی شرط ابتداء دښځی دجانبه وی نو څه حکم دی؟

جواب: په دی صورت کی دشرط دوجود څخه وروسته ښځی ته اختیار دطلاقو سته اوهر دواړه صورتونه برابردی په درمختار کی دی: قال لها اختياري او امرك بيدك ينوي تفويض الطلاق الخ او طلقي نفسك فلها ان تطلق في مجلس علمها به مشافهة او اخباراً الخ (۲). فقط

که ستا داجازی څخه بغیر نکاح وکړم نو تاته اختیار دی ددی اختیار څخه وروسته دښځی طلاق به واقع وی: **سوال**: (۲۰۹) یوسړی په وخت دنکاح ښځی ته دا اختیار ورکی چی که

---

(۱) اقول وظاهر ان التعليق كالتنجيز فی وقت تحقق الشرط (ردالمحتار باب الامر باليد ج۲ ص۲۲۲) وما سوٰی من الحقوق يقبل فيها شهادة رجلين اورجل وامراتين سواء كان الحق مالا اوغير مال مثل النكاح الطلاق والوكالة والوصية ونحو ذالك (هدايه كتاب الشهادة ج۲ ص۱۲۲، ط. س. ج۳ ص۱۵۴). ظفير

(۲) الدرالمختار على هامش ردالمحتار باب تفويض الطلاق ج۳ ص۳۱۵، ط.س. ج۲ ص۲۵۳. ظفير

زه ستا داجازی څخه بغیر بله نکاح وکړم نو په دی حالت کی تاته به اختیار وی چی دوهمي ښځی ته طلاق ورکړی او زما دنکاح څخه یی لیری کړی نوپه دی صورت کی دی ښځی ته دطلاق ورکول صحیح دی اوکه نه؟ او دې ته به اختیار وی اوکه نه؟

جواب: په دی صورت کی ښځی ته اختیار ورکول صحیح دی که دغه وخت دا طلاق ورکړی نو واقع به سی (١). فقط

دعهد نامې په وجه دمذکوره مودی څخه وروسته ښځه خپل ځان ته طلاق ورکولی سی:

سوال: (٢١٠) دیوی ښځی خاوند دشپږو کالو څخه مفقود الخبردی اوده دنکاح په وخت خپلی ښځی ته یوعهد نامه په دی مضمون لیکلی وه چی که زه نامرد سم او یا مفقود الخبر سم یا خوقیدی سم اویا مسافر سم چی ستا سره تلل راتلل نه سم کولی او نان او نفقه درنه کړم نو ددوو کالو انتظار کولو څخه وروسته ماته چی کم دطلاقو اختیار دی زه هغه تاته سپارم ته دری طلاق واچوه اودبل سړی سره نکاح وکړه نوپه دی صورت کی موافق دشرط دعهد نامې، ښځه طلاق واچوی اودوهمه نکاح کولی سی اوکه نه؟

جواب: په دی صورت کی دشرط دپوره کیدو څخه وروسته ښځی ته ددرو طلاقو اختیار دی خودا شرط دی چی په کم مجلس کی داموده پوره سی چی دهغه څخه وروسته ورته خاوند دطلاقو اختیار ورکړیدی، یعنی دوه کاله، نوپه دغه وخت اودغه مجلس کی چی ښځی که خپل ځان ته دری طلاق ورکړل اودخاوند دزوجیت څخه جلاسی نوکیدی سی. قال لها اختیاری (الی ان قال) اوطلقی نفسك فلها ان تطلق فی مجلس علمها به مشافهة او اخباراً وان طال یوما اواکثر ما لم یوقته وبمضی الوقت قبل علمها (٢) درمختار. قوله ما لم یوقت فلو قال جعلت لها ان تطلق نفسها الیوم اعتبر مجلس علمها فی هذه الیوم فلو مضی الیوم ثم علمت خرج الامر عن یدها وکذا کل وقت قید التفویض به الخ (٣)، شامی ج٢ ص٥٧٥، اقول وظاهر ان التعلیق کالتنجیز فی وقت تحقق الشرط قال فی الشامی والتنجیز بمنزلة التعلیق (٤) ج٣ ص٤٨٤، وفی الدر المختار لکن فی البحر عن القنیة ظاهر الروایة ان المعلق کاالمنجز (٥) ج٢ ص٤٨٤، وفی الدرالمختار ایضا: ومن

---

(١) ذکر ما یوقعه غیره باذنه وانواعه ثلاثة تفویض وتوکیل ورسالة الخ واما فی طلقی ضرتك فیصح رجوعه ولم یقید بالمجلس لانه توکیل محض (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب التفویض ج٢ ص٦٥٣ ط. س. ج٣ ص٣١٥). ظفیر

(٢) ایضا. ظفیر

(٣) ردالمحتار کتاب الطلاق باب تفویض الطلاق ج٢ ص٦٥٣ – ٦٥٤، ط. س. ج٣ ص٣١٥. ظفیر

(٤) ردالمحتار باب الامر بالید ج٢ ص٦٢٢ ط. س. ج٣ ص٣٢٩. ظفیر

(٥) الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب الامر بالید ج٢ ص٦٢٢. ط.س. ج٣ ص ٣٢٩. ظفیر

الالفاظ المستعملة الطلاق یلزمنی والحرام یلزمنی وعلی الطلاق وعلی الحرام فیقع بلا نیة للعرف الخ (۱) ج۲ ص۴۳۲ شامی وفیه تفصیل حققه فی الشامی. فقط

داختیار سپارلو مطابق ښځه خپل ځان ته طلاق اچولی سی: سوال: (۲۱۱) دزاهد علی ولد عابد علی نکاح دکریمن بنت عبدالله نومی سره په اقرار دامر بالید منعقده سوه اونکاح نامه ولیکل سوه چی په هغه کی دا الفاظ لیکلی دی چی مسماة کریمن پخپله رضامندی می بی له جبر او اکراه دیوه سړی سره په دی مضمون امرها بیدها مختاره کړه، یعنی مسماة کریمن چی هرکله وغواړی نوخپل ځان زما دنکاح څخه ازادولی سی اوزما به دهیڅ قسم تعلق دقائم ساتلو دعوٰی نه وی ځکه چی په سبب داختیار دمضمون دامرها بیدها به دغه وخت قطعًا اویقینًا زما دعقد دنکاح څخه داخارجه سی اوس دزاهد علی دناوړه کارونو په وجه مسماة کریمن دزاهد علی دنکاح څخه دبیلیدو څخه وروسته عقد ثانی کول غواړی نواوس نوموړی کریمن په کمو الفاظو سره مضمون دطلاقو دڅو شاهدانو په مخکی په خپله ژبه اداء کړی چی طلاق واقع سی اوخپل ځان دهغه دعقد څخه ازاد کړی؟

جواب: په دی صورت کی کریمن ته اختیار دی چی داکله وغواړی خپله نکاح فسخ کولی سی اودا دی دا الفاظ ووایي چی ماخپل ځان ته طلاق بائن ورکی اودخپل خاوند زاهد علی دنکاح څخه می ځان ازاد کی نوپه دی حالت کی کریمن ته طلاق بائن واقع سو اودا دزاهد علی دنکاح څخه ووتل، وروسته دعدی څخه دی لره جائز اوصحیح دی چی دادبل چاسره نکاح وکړی خودا شرط دی چی خاوند: الامر بالید په نیت دطلاقو ویلی وی، کما قال فی الدرالمختار قال لها اختیاری وامرك بیدك ینوی تفویض الطلاق لانهما کنایة فلا یعملان بلا نیة الخ فلها ان تطلق الخ (۲). فقط

دنکاح څخه مخکی تفویض نامه صحیح نه ده خوکه په طوردتعلیق وی نوبیا صحیح ده: سوال: (۲۱۲) یوسړی دعقد نکاح څخه مخکی هغه ښځی ته چی ددی سره دی نکاح کول غواړی دتفویض دطلاقو اختیار ورکړی یعنی چی کله هم دا ښځه وغواړی دسړی څخه خپل ځان په ذریعه دطلاقو جلا کړی اودابه مطلقه سی نودا تفویض دنکاح څخه مخکی صحیح دی اوکه نه؟

جواب: دنکاح څخه مخکی تفویض دطلاق نه سی کیدی خوکه په طریقی دتعلیق او داضافت داسی ووایي چی کله زه ستاسره نکاح وکړم نوتاته دطلاقو اخیستلو اختیاردی

---

(۱) ایضا کتاب الطلاق باب الصریح ج۲ ص۵۹۴. ظفیر

(۲) الدرالمختار علی هامش ردالمحتارکتاب الطلاق باب تفویض الطلاق ج۲ ص۲۵۳. ط. س. ج۳ ص۳۱۵. ظ

یا دا ووایي چی وروسته دنکاح څخه تاته دطلاق اختیار دی نوداسی تفویض صحیح (۱) دی. فقط

داقرار نامې مطابق ښځه طلاق اخیستی سی: **سوال**: (۲۱۳) یوسړی خپلی ښځی ته دا اقرار نامه ورکړه چی نوموړی ته به هیڅ قسم تکلیف نه وی که وی نوبیا نوموړی ته به اختیاروی چی خپله فیصله وکړی، ددی څخه وروسته دې دخاوند دخوښی خلاف کار وکی چی دهغه دوجه څخه ده ښځه ووهله ښځه ولاړه دپلار کره اوپه عدالت کی یی دعوٰی وکړه عدالت داقرار نامی په وجه حکم دطلاق ورکی په دی حالت کی ښځه خپله نکاح په بل ځای کی کولی سی اوکه نه؟

جواب: چی کله خاوند داسی اقرار نامه لیکلی ده نو ددی موافق دشرط په موجودیدو باندی ښځی ته اختیار دطلاق اخیستلو سته (۲) او وروسته دعدی څخه ددی بل ځای نکاح صحیح ده. فقط

دعهد نامې شرط چی کله موجود نسی نوطلاق واقع نه سو: **سوال**: (۲۱۴) مولوی زید دخپلی لور خالدی نکاح دبکر سره وکړه اویوه عهد نامه یی په څو شرطونو ولیکله په هغو شرطونو کی یوشرط داهم وو چی که زه دائم المریض یادائم الحبس یامفقود الخبر سم یاطاقت می دجماع پاته نه سی نو ددرو کاله انتظار کولو څخه وروسته به خالدی ته اختیاروی چی خپل ځان طلاق کړی اودبل سړی سره نکاح وکړی څو ورځی وروسته دخسر اوزوم په مینځ کی ناچاقی راغله بکر دخپلی ښځی سره لیده کاته پریښوول یو مولوی فتوٰی ورکړه چی دوجود دشرط څخه وروسته طلاق واقع سو په دی باندی زید دخپلی لور خالده بله نکاح وکړه، اوخاوند ددی سره وطی وکړه په دی صورت کی چی چا فتوٰی ورکړه دده او ددوهم خاوند څه حکم دی؟

جواب: چی شرط دعهد نامې موجود نه سو نوښځی ته دطلاق اخیستو اختیار نسته او دوهمه نکاح ددې صحیح نه ده باقی دوهم خاوند چی پر بناء دفتوٰی دوهمه نکاح اووطی

---

(۱) شرطه الملك كقوله لمنكوحة الخ ان ذهبت فانت طالق او الاضافة اليه اى الملك الخ كان نكحتك فان طالق الخ فلغا قوله لاجنبية ان زرت زيداً فانت طالق (الدرالمختار على هامش ردالمحتار باب التعليق ج۲ ص۲۸۰. ط. س. ج۳ ص۳۴۴). ظفير

(۲) والثاني تعليق التفويض بالشرط وله أقسام أحدها تعليق التفويض بالغيبة الخ أن فلانا جعل أمر امرأته فلانة بيدها معلقا بشرط أنه متى غاب عنها من كورة كذا أو من مكان كذا الخ ولم يعد إليها في هذه المدة فإنها تطلق نفسها بعد ذلك متى شاءت الخ القسم الثاني التعليق التفويض بترك نقد المعجل إلى وقت كذا الخ القسم الثالث تعليق التفويض بشرط قماره أو بشربه الخمر أو ضربه ضربا موجعا الخ (عالمگيري كتاب الشروط فصل ثالث ج۶ ص۲۲۲ - ۲۲۳). ظفير

کړیده هغه بری دی گناه پر فتوٰی ورکوونکی ده. فقط

<u>په حلاله کی داشرط بالکل باطل دی چی کله زه وغواړم نوطلاق به واخلم اوازاده به سم</u>:

سوال: (**۲۱۵**) زید که دخپلی طلاقی سوی ښځی سره په دی شرط سره نکاح وکړی چی په خپله ښځه مطلقه دزید په وخت دنکاح ثانی داشرط وکړی چی کله زه وغواړم ددوهم خاوند څخه به زه طلاق بائن واخلم اوازاده به سم نوپه دی صورت کی به حلاله صحیح سی اوکه نه؟

جواب: دوهم خاوند چی دوطی دوخت څخه وروسته دیته طلاق ورکړی نو دعدی څخه وروسته دابښځه به داول خاوند دپاره حلاله سی اودښځی داشرط دنکاح باطل دی ددی څخه ښځی ته دطلاق اختیار نه حاصلیږی خوکه داشرط یی لګولی وی چی وروسته دنکاح څخه چی کله هم زه وغواړم طلاق به اخلم نوښځه چی کله هم وغواړی خپل نفس ته طلاق ورکولی سی (۱)، اوددوهم خاوند وطی په حلاله کی ضروری ده.

<u>ددری طلاقو په نیت یی ښځی ته وویل طلقی نفسک نوځو طلاقه واقع سوه</u>: سوال: (۲۱۶) که زید په نیت دطلاقو خپلی ښځی ته دا وویل طلقی نفسك نوپه دی سره دری طلاق واقع کیږی اوکه یورجعی؟

جواب: که دادری طلاقه په خپل نفس باندی واقع کړی نودری طلاقه به واقع وی اوکه یو واقع کړی نو یو به واقع وی (۲). فقط

<u>طلقی نفسک یی وویل بیا پوره کال پته خوله وو نوڅه حکم دی؟</u> سوال: (۲۱۷) زید خپلی ښځی ته طلقی نفسك وویل اوتریو کاله پوری پټه خوله پاته سو په دی صورت کی دزید نیت به ددری طلاقو گڼل کیږی اوکه نه؟

جواب: نه (۳). فقط

---

(۱) شهدوا ان فلانا جعل امر امراته فلانة بیدها علی ان تطلق نفسها ماشائت ومتٰی شائت ابداً وانها قبلت منه هذا الامر (عالمگیری مصری ج۲ ص۲۲۲) قال لها طلقی نفسك فلها ان تطلق فی مجلس علمها به مشافهة او خبار اوان طال یومًا اواکثر مالم یوقته (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب تفویض الطلاق ج۲ ص۷۵۳. ط. س. ج۳ ص۳۱۵). ظفیر

(۲) قال لها طلقی نفسك فلها ان تطلق نفسها (درمختار) هذا تفویض بالصریح ولایحتاج الی نیة والواقع به رجعی وتصح فیه نیة الثلاث کما سیذکره المصنف اول فصل المشیة (رد المحتار باب التفویض ج۲ ص۷۵۳. ط. س. ج۳ ص۳۱۵). ظفیر

(۳) اوطلقی نفسك فلها ان تطلق (درمختار ط. س. ج۳ ص۳۱۵) هذا تفویض بالصریح ولایحتاج الی نیة والواقع به رجعی (درمختار باب التفویض ج۲ ص۷۵۴. ط. س. ج۳ ص۳۱۵) بغیر دخاوند دنیت څخه صرف دمودی په اوږدوالی باندی هیڅ نه کیږی. قال لها طلقی نفسك ولم ینو او نوی واحدة فطلقت وقعت رجعیة وان طلقت ثلاثا ونواه وقعن (ایضا ج۲ ص۷۲۸). ظفیر

دطلاق څخه چې کله دجاهلانو په عرف کې دری طلاقه مراد وی نوځه حکم دی؟ سوال: (۲۱۷) دجاهلانو په عرف کی دطلاق لفظ په معنٰی دطلاق مغلظ دی، ددی دعرف څه اعتبار سته اوکه نه؟

جواب: ددی عرف هیڅ اعتبار نسته (۱). فقط

شپږم باب

دمعلق طلاق احکام او مسائل

سړی وویل که فلانی ځای ته ولاړ سم نو ماته دری طلاقه څه حکم دی؟ سوال: (۲۱۹) زید په حالت دسختنه غصه کی دخپلی خور سره په جګړه کی وویل چې که زه بارچك نومي سیمي ته ولاړسم نوماته دری طلاق دی، په دی الفاظو سره به څه ثابت وی آیا دا الفاظ به معلق وي په شرط اوپه دی الفاظو سره به کم طلاق مراد وی؟

جواب: په دی صورت کی به دری طلاقه په مذکوره شرط معلق وی که دی داکار وکړی نو دری طلاقه به دده پر ښځه واقع وی اوبی له حلالی به دده ښځه دده دپاره حلاله نه وی قال فی الدرالمختار: ومن الالفاظ المستعملة الطلاق یلزمنی والحرام یلزمنی وعلی الطلاق وعلی الحرام فیقع بلانیة الخ (۲). والتفصیل فی الشامی (۳).

چې دچا په انکار یی طلاق معلق کړی اوده انکار وکی نوطلاق واقع نه سو: سوال: (۲۲۰) زید وویل چې کم وخت ما دعمره سره دنیاوی جګړه وکړه دغه وخت خالد زه وهلی وم یو سړی ده ته جواب ورکی چې ته ګرسره هم خالد نه یی وهلی، زید وویل که خالد زه نه یم وهلی اودی حلفًا منکر زما دوهلو څخه وی نو ددی څخه وروسته زما ښځی ته دری طلاقه، تردی وروسته خالد دمسلمانانو په مخکی شرعی قسم واخیستی چې ما هرګز زید نه دی وهلی په دی صورت کی دزید څه حکم دی دری طلاقه واقع سوه اوکه نه؟

جواب: چې زید په قول اقرار کوی اووایي چې زه خالد وهلی یم نودده پر ښځی طلاق نه دی واقع (۴). فقط

که بچې فلانی ځای وسو نوطلاق داجمله چې ووایي نوځه حکم دی؟ سوال: (۲۲۱) زید خپلی ښځی ته وویل چې که ستا بچې ستا دمور په کورکی وسو نوته طلاقه یې، نوبچې

---

(۱) والطلاق یقع بعد دقرن به لا به (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب الطلاق غیر المدخول بها ج۲ ص ۲۲۷. ط. س. ج۳ ص۲۸۲). ظفیر

(۲) الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب الصریح ج۲ ص۵۹۴. ط. س. ج۳ ص۲۵۲. ظفیر

(۳) وګوری ردالمحتار باب للشامی باب الصریح ج۲ ص۵۹۴. ط. س. ج۳ ص۲۵۲. ظفیر

(۴) وان اضافه الی الشرط وقع عقیب الشرط (عالمګیری کشوری ج۲ ص۴۴۰ ط. س. ج۱ ص۴۲۰) اودلته شرط نه دی موجود سوی. ظفیر

ددی دمورپه کورکی پیداسو نوطلاق واقع سو اوکه نه؟ ښځی په خپله پرقرآنکریم باندی لاس کښې ښووی اوزما په مخکی یی په قسم بیان وکی او دښځی دوارثانو دټولو هم دا بیان دی، ددی دخاوند څخه مو پوښتنه وکړه نوده په جامع مسجد کی پر قرآنکریم لاس کښی ښووی، اوقسم یی واخیستی چی ماطلاق نه دی ورکړی یوخط دخاوند لیکل سوی زما سره دی چی دښځی په نوم دی په دی کی لیکلی وه چی که ستا له امله پرما تور داغ لګیږی نوما تعلق ختم کی، افسوس صد افسوس څه می خیال ؤ اوڅه کیږی، اوداخط یی ورته وښووی نو اقرار یی وکی چی زما دی خو زما دانیت نه وو، نوپه دی صورت کی دده قول معتبر دی اوکه نه؟

جواب: که خاوند واقعی داسی ویلی یالیکلی وی چی که بچی ستا دمور په کورکی پیدا سو نوتاته طلاق دی اوبیا بچی دمور په کورکی پیداسو نوبیا ښځه طلاقه (۱) سوه اوکه خاوند دتحریر اودتقریر دتعلیق څخه انکار کوی او باقاعده څه ثبوت شرعی نه وی نو دطلاقو حکم به نه وی ځکه چی په دی باره کی دخاوند قول به معتبر وی اودقطع تعلق په لفظ کی دنیت اعتبار دی که خاوند نیت دطلاقو نه منی نوپه دی لفظ سره شرعًا به طلاق واقع نه وی خوکه ښځی ته دطلاقو یقین وی مثلاً داچی دی په خپله لفظ دطلاقو اوریدلی دی یایی دده په لیکلوکی لیدلی دی نوکه داخپل ځان خلاصولی سی نوځان دی خلاص کړی او دمجبوری په حالت کی ګناه به دخاوند پرذمه وی اوپه ښځي به هیڅ ګناه نه وی (۲). فقط

<u>په طلاق معلق کی شک پیداسو نوطلاق به واقع نه وی</u>: **سوال**: (۲۲۲) زید قسم واخیستی چی که ما دعمر شکایت کړی وی نو زما پر ښځه دی طلاق مغلظ وی څه ورځی وروسته ورته یاد سوه چی ما ددی قسم کولو څخه مخکی فلانی سړی ته چی دعمر دشکایتونو څخه خبر وو مثلاً په کلکته کی دا ویلی وه چی کله بنارس ته ولاړ سی نو دعمر شکایت فلانی ته وکړه نوده په بنارس کی شکایت هم کړی وو خوپه دی قسم کی زید ته دا شبهه ده چی دقسم کولو پروخت دځای تخصیص می کړی وو اوکه نه؟ مثلاً داسی می ویلی وه چی که مادعمر شکایت په بنارس کی چاته کړی ؤ نوزما پرښځی طلاق یاداچی مطلق دځه ځای وغیره تخصیص می نه ؤکړی نوپه دی صورت‌کی‌دده ښځه طلاقه سوه اوکه نه؟

---

(۱) فاذا اضافه ای الطلاق الی الشرط وقع عقیب الشرط اتفاقا (عالمګیری کشوری باب التعلیق ج۲ ص۴۴۰، ط. س. ج۳ ص۴۲۰). ظفیر

(۲) والمرأة کالقاضی اذا سمعته او اخبرها عدل لا یحل لها تمکینه الخ انها ترفع الی القاضی فان حلف ولا بینة لها فالاثم علیه (ردالمحتار کتاب الطلاق باب الصریح ج۲ ص۵۹۴. ط. س. ج۳ ص۲۵۱). ظفیر

جواب: په شك سره طلاق نه واقع كيږي نو چي كله په مسئوله صورت كي چي ده ته دتعميم او دتخصيص دمكان شك دی نوپه تحقق دشرط سره به طلاق نه وی واقع: علم انه حلف ولم يدر بطلاق اوغيره لغا كما لو شك اطلق ام لا الخ. درمختار (۱).

طلاق دښځي په يوكار باندي په صيغه داستقبال سره په معلق كولو باندي به طلاق نه وی واقع: سوال: (۲۲۳) كه يو سړی ښځی ته داكلمه ووايي كه فلانی كار دی وكی نوتاته به طلاق دركړم كه ښځه په غلطی داكار وكړی اوسړی پرښځي مذكوره كلمه استعمال نه كړی نوپه مخكني كلمه سره به پرښځه طلاق واقع وی اوكه نه؟

جواب: كه داښځه داكار وكړی نوپه دی به طلاق واقع نه وی خوكه خاوند طلاق وركړی نو طلاق به واقع وی بغير دطلاقو وركولو څخه به په دی مخكني كلمه سره طلاق واقع نه وی (۲). فقط

راسره يی كړی كنې طلاق وركوم اوښځه ورسره نه سوه نو طلاق واقع سو : **سوال**: (۲۲۴) زيد خپلي خسرګني ته دخپلی ښځی دراوستو دپاره ولاړی دډيرو خبرو اترو څخه وروسته ده په حالت دغصه دخپلی ښځی په باره كی خلګو ته دا وويل چی زما ښځه زما سره ملګري كړی كنې زه طلاق وركوم يابه يی وركړم اودا الفاظ يی په مختلفو مجلسونو كی پنځلس شل واره ادا كړل ددی الفاظو خبر خلګو دزيد خسر اودده ښځی ته ور نه كړی اودزيد ښځه يی دده سره ورسره نه كړه اودی بيرته راغی، اوس ددی واقعي پنځلس شل ورځی سويدی نو دزيد ښځه طلاقه سوه اوكه نه؟ اويو طلاق سويدی اوكه دری؟

جواب: په لفظ د (كنې زه طلاق دركوم) سره په وخت دتحقق دشرط به طلاق واقع وی او په (وربه يې كړم) كی به طلاق واقع نه وی. لانه وعد كذا فی الشامی (۳). اوكه ويونكی ته شك وی چی (طلاق دركوم) يی ويلی دی اوكه (طلاق به وركړم) نوپه صورت دشك كی طلاق نه كيږي او چی په كم صورت كی طلاق واقع وی نو يو طلاق به واقع وی اوپه متعددو مجلسونو كی په ويلو سره كه دده غرض حكايت دطلاق اول وی نوپه دی تكرار سره به نوی طلاق نه وی واقع. فی الدرالمختار علم انه حلف ولم يدر بطلاق اوغيره لغا كما لو شك اطلق ام لا ولو شك اطلق واحدة او اكثر بنی علی الاقل الخ (۴). فقط

---

(۱) الدرالمختار علی هامش ردالمحتار كتاب الطلاق باب الصريح ج۲ ص۲۲۳. ط. س. ج۳ ص۲۸۳. ظفير

(۲) انا اطلق نفسی لم يقع لانه وعد (درمختار) وعبارة الجوهرة وان قال طلقی نفسك فقالت انا اطلق لم يقع قياسا واستحسانا (ردالمحتار باب تفويض الطلاق ج۲ ص۲۵۸. ط. س. ج۳ ص۳۱۹). ظفير

(۳) وګوری: الدرالمختار علی هامش ردالمحتار للشامی ج۲ ص۲۵۷. ط. س. ج۳ ص۳۱۹. ظفير =

طلاق چې په امر محال پورې معلق سي نوطلاق نه كيږي: **سوال**: (۲۲۵) دزيد بالغ نكاح دهندى بالغى سره وسوه اوزيد دځه خفګان په وجه داقسم واخيستى چې كله زه نكاح دخپلې ښځې هندى سره وكړم نودا پرما حرامه ده خو دقسم سره يې نيت دطلاقو نه وو، بلكې دايې خيال وو چې په دى قسم كې شرط لغودى ولي چې نكاح خو سويده. اوس دداسى قسم اثر به پر نكاح نه وى كه دنكاح څخه مخكې يې قسم كولى نو دهندى سره نكاح كيدى سوه په دى صورت كې پر زيد هنده حرامه سوه اوكه نه؟

جواب: په درمختار باب التعليق كې دى: وشرط صحته كون الشرط معدوما على خطر الوجود فالمحقق كإن كان السماء فوقنا تنجيز والمستحيل كإن دخل الجمل في سم الخياط لغو (درمختار) قوله لغو فلايقع اصلا لان غرضه منه تحقيق النفى حيث علقه بامر محال وهذا يرجع الى قولهما امكان البر شرط انعقاد اليمين الخ شامى جلد۲ ([۱]).

ددى څخه معلومه سوه چې كه په امر محال باندى طلاق معلق كړى نودا لغوه دى، نوپه مسئوله صورت كې ښكاره ده چې ښځه تركمه پورې چې دده ښځه ده نكاح نه سى كولى اومنكوحه محل دنكاح نه ده، وروسته چې كله دا كلام لغوه دى نوكه وروسته دطلاق څخه بيادى ددى سره نكاح وكړى نو بيابه هم طلاق نه وى واقع، نو په موجوده حالت كې چې دا ښځه دده په نكاح كې دمخكې څخه موجوده ده په دى سبب به په تعليق مذكور سره طلاق نه وى واقع. فقط

طلاق يې په روپو وركولو معلق كړيدى نوبغير دروپو وركولو به طلاق نه وى: **سوال**: (۲۲۶) زيد ته دا وويل سوه چې هنده چې ستا ښځه ده ديته طلاق وركړه موږ به ستا دوهمه نكاح وكړو اودومره به روپې هم دركړو په دى زيد طلاقنامه هم وليكله، خو ددوهم طرف څخه تراوسه پورې يوه وعده هم پوره نه سوه نه يې ورته روپې وركړې اونه يې ورته نكاح وكړه اوزيد صرف داطلاقنامه وليكله زبانى طلاق يې ورنه كړى، آيا داښځه دزيد په كور كې اوسيدى سى اوكه نه؟

جواب: چې طلاقنامه يې په روپو وركولو ليكلى وه او روپې ورنه كول سوى نوطلاق واقع نه سو. فقط

ښځې ته يې وويل چې كه تراتو ورځو پورې دى خوراک وكې نوته طلاقه يې، درې ورځې وروسته ښځې خوراک وكې، څه حكم دى؟ سوال: (۲۲۷) يو سړى دمور په موجودګى او دخور په موجودګى كې ښځې ته په غصه كې وويل كه ته تراتو ورځو پورى خوراك

([۴]) الدرالمختار على هامش ردالمحتار كتاب الطلاق ج۲ ص۲۲۳. ط. س. ج۳ ص۲۸۳. ظفير
([۱]) الدرالمختار على هامش ردالمحتار كتاب الطلاق ج۲ ص۲۷۹. ط. س. ج۳ ص ۳۴۲. ظفير

وکړی نوتاته طلاق ښځی تردرو ورځو پوری خوراك ونه کی دښځی دورور په اصرار سره په دی میعاد کی یې دننه خوراك وکی اوخاوند دمذکوره الفاظو ویلو څخه انکار کوی، مذکوره ښځه وایي چی بی شکه ویلی دی نوطلاق واقع سو اوکه نه؟ شپږ میاشتی وروسته خاوند ښځه په زور کور ته راوستله؟

جواب: چی کله خاوند ددی الفاظو ویلو څخه منکردی اودوه عادل معتبر شاهدان نسته نو قضاءًا دخاوند قول معتبردی او طلاق نه ثابتیږی، (۱) خو چی کله ښځی ته یقینًا دا معلومه ده چی خاوند دا الفاظ ویلی دی اوپه وجه دموجودیدو دشرط طلاق واقع سوی دی نوښځي ته دخپل وس مطابق دده څخه جلا اوسیدل په کاردی اوپه مجبوری کی ګناه دخاوند پرذمه (۲) ده اوچی په دی صورت کی موافق دبیان دښځی یوطلاق رجعی واقع کیږی اوپه عده کی دننه رجوع نه ده سوی لکه چی دسوال څخه معلومیږی، نواوس دحلالیدو صورت عند الله دادی چی خاوند دی په دی راضی سی چی تجدید دنکاح وکړی یعنی ددوو سړیو په مخکی دی بیا ایجاب اوقبول وکړی اودری څلور روپی مهر شرعي دی مقرر کړی. (۳) فقط

چی دطلاق ورکولو په وخت یی داپه څه کار پوری معلق نه کړی نو په وروسته ویلو سره هیڅ نه کیږی: **سوال**: (۲۲۸) هندی ته ددی خاوند په خبرو کی دا وویل ستا شرك کول ثابت دی ما تاته طلاق درکی ما تاته طلاق درکی، ما تاته طلاق درکی، څو ورځی وروسته موده پوره سوی نه وه، چی هنده یی خپل کورته بوتله اوتر اوسه پوری ورسره ده اوس هنده وایي چی ما دشرك کولو نیت نه وو کړی او زید وایي چی ماپه دی شرط طلاق ورکړی وو چی که شرك ثابت سو نوزه تاته طلاق درکړم، نوچی شرك ثابت نه سو نوما رجوع وکړه دا جائز ده اوکه؟

جواب: په دی صورت کی دزید پر ښځه دری طلاقه واقع سوه اوس بغیر دحلالی دزید دپاره حلاله نه ده اورجوع کول اونوی نکاح ددی سره بغیر دحلالی څخه صحیح نه دی، ځکه چی دزید په اٰخر کی الفاظ دادی چی شرك کول ستا ثابت سوه ماتاته طلاق درکړی دی، نو په دی کی طلاق په څه شرط معلق نه دی بلکی بغیر دڅه شرطه یی طلاق ورکړی

---

(۱) فان اختلفا فی وجود الشرط فالقول له مع الیمین لانکاره الطلاق (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب التعلیق ج۲ ص۶۹۰. ط.س. ج۳ ص۳۵۲). ظفیر

(۲) اذا سمعت المرأة الطلاق ولم تسمع الاستثناء لا یسعها ان تمکنه من الوطؤ (ردالمحتار للشامی باب التعلیق ج۲ ص۷۰۳. ط.س. ج۳ ص۳۲۹). ظفیر

(۳) وینکح مبائنة بما دون الثلث (الدرالمختارعلی هامش ردالمحتار باب الرجعة ج۲ ص۷۳۸. ط. س. ج۳ ص ۴۵۹). ظ

دی اوپه صریح الفاظو کی دنیت ضرورت نسته اوپه حالت دغصه کی هم طلاق واقع کیږی اوحالت دلیونتوب ثابت نه دی په حدیث پاك کی دی چی: ثلاث جدهن جد وهزلهن جد. الحدیث (۱).

په ژبه یی طلاق ورکی اوپه زړه کی یی دتعلیق اراده وه نواعتبار به دژبی وی: **سوال**: (۲۲۹) یوطالب علم ستاسو فتوٰی وکتله اودا شبه یی ښکاره کړیده چی سائل طلاق په زړه کی ورکړیدی اوپه ژبه یی هیڅ هم نه دی ویلی حال دادی چی خاوند لفظ دطلاق دری واره په ژبه ویلی دی نو په دی صورت کی شرعًا څه حکم دی چی کله تعلیق دطلاق په زړه کی وی په ژبه سره یی نه وی ویلی اوطلاق په ژبه ورکړی نو طلاق فی الحال واقع کیږی صحیح ده اوکه نه؟

جواب: اقول وبالله التوفیق، دا امر صحیح دی چی که تعلیق په ژبه ونه وایي بلکه په زړه کی وی اوطلاق په ژبه ورکول سی نو طلاق فی الحال واقع کیږی احقر چی کم جواب مخکی لیکلی وو هغه غالبًا پر دی بناء وو چی شرط اوطلاق دواړه په ژبه وی ځکه چی مخکی سوال چی په رجسټرکی لیکلی دی ددی دسیاق څخه دا معلومیږی چی دښځی بیان یی رښتیا وګڼی چی که دهندی بیان رښتیا وی نوما دری طلاقه ورکړیدی اوبیا دا بیان غلط ثابت سو نوچی شرط دطلاقو موجود نه سو ددی وجه څخه جواب ولیکل سو چی طلاق واقع نه دی، نوکه واقعه داوی چی خاوند په ژبه سره شرط نه وی ظاهر کړی صرف په زړه کی یی خیال وکی اوطلاق یی په ژبه سره ورکی چی په دی کی څه شرط په ژبه اداء نه سو نوطلاق فوراً واقع سو، کما ذکر فی الدر المختار (۲).

داکار ونه کړی کنی طلاق به درکړم داجمله تعلیق نه ده: **سوال**: (۲۳۰) زید خپلی ښځی ته وویل چی ته فلانی خبره چاته مه کوه بلکی دکور هیڅ یوه خبره چاته مه کوه اوزما دحکم څخه بغیر دکور څخه بهر قدم مه ایږده کنی طلاق به درکړم، او ددی څخه وروسته زید خپلی مور ته وویل چی ماښځی ته شرطیه طلاق ورکړیدی، اوس زید داطلاق بیرته واخیستی اوښځی ته یی دمذکوره کارونو اجازه ورکړه چی په کمو کارونو یی طلاق معلق کړی وو، نودا جائز دی اوکه نه؟

جواب: زید چی کم الفاظ ویلی دی نودا شرطیه طلاق نه دی بلکی یووعده اواظهار دارادی وو چی که ته فلانی کار وکړی نوزه به طلاق درکړم په دی سره تعلیق دطلاقو ونه

(۱) مشکوٰة باب الطلاق ج۲ ص۲۸۴. ردالمحتار ط. س. ج۳ ص۲۴۷. ظفیر

(۲) صریحه ما لم یستعمل الا فیه الخ یقع بها ای بهذه الالفاظ وما بمعناها من الصریح الخ واحدة رجعیة الخ (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب الصریح ج۲ ص۵۹۰. ط. س. ج۳ ص۲۴۷). ظفیر

سو بلکی داوعده ده دطلاقو [1]. ده ته اختیار دی چی که دده ښځی په دی کارونو کی څه کاروکړی نوکه دی طلاق ورکوی اوکه یې نه ورکوی یعنی داوعده که پوره کوی اوکه نه خو چی کله ده خپلی مور ته وویل چی ماشرطیه طلاق ورکی داشرطیه طلاق سو [2].

چی شرط موجود نه سو نو طلاق واقع نه سو: **سوال**: (۲۳۱) زید، عمر، بکر، خالد، څلور واړه، په څلورو سیرو غنمو کی شریك دی عمر، اوبکر څه غنم خرڅ کړل اوپه ضرورت دمعاش کی یې خرڅ کړل اوزید هم څه خرڅ کړل نیم پاو غنم چی کله پاته سول نوخالد چی کله دا وکتل نو په زړه کی یی وویل چی زما حصه هم وه خوخالد په څلورو کی کمزوری طالب العلم وو، ده نیم پاو خرڅ کړل، زید وویل چی غنم په کم ځای کي خرڅ سوه، نو هریو منکرسو، ده وویل ټول طلاق اضافی وواياست نوهر یوه طلاق اضافی وواپه چی کله دخالد لمبر راغی نوده په نیت کی دا اراده وکړه چی زه هم حصه دار یم غل نه یم ده وویل زه غل نه یم که ماغلا کړی وی نوچی کله زه نکاح وکړم نوپر مادی دا ښځه طلاقه وی نوپه دی صورت کی پر خالد به طلاق اضافی عائد وی اوکه نه؟

جواب: په دی صورت کی پرخالد به طلاق اضافی عائد نه وی اوپه دی امرکی دی صادق دی چی زه غل نه یم نودا شرط چی که ما غلا کړی وی الخ پر ده عائد نه دی.

په عهد نامه کی دی چی که جبراً یی یوځای بوزم نو تاته به دزوجیت ختم کولو اختیار وی، نو څه حکم دی؟ **سوال**: (۲۳۲) دعهد نامې په شرطونو کی یوشرط داهم دی چی تابه دخپلی خوښی په ځای کی ساتم اوپه زور به دی هیڅیري نه بیایم، که دی بوزم نوتاته به دزوجیت دتعلق دختم کولو اختیار وی اوس خاوند ناخوښه ځای ته بیول غواړی چی ښځی ته خوښ نه دی نوپه دی صورت کی به ښځی ته دطلاقو اختیاروی اوکه نه؟

جواب: په دی صورت کی ښځی ته به دطلاق بائن داخیستو حق حاصل وی کما هو حکم التعلیق من انه تنحل الیمین بعد وجود الشرط [3]. فقط

ته ولاړه نه سی نوطلاق به درکړم وعده ده تعلیق نه دی: **سوال**: (۲۳۳) اصغر علی دسکینه بی بی سره واده وکی اوپه خسرګنی کی اوسیدی ددی څخه وروسته ناجوړه سو، په خپل مینځ کی صلح وکړه اوکور ته راغلل، ترلسو میاشتو پوری په کورکی اوسیدل ددی څخه

---

[1] انا اطلق نفسی لم یقع لانه وعد (درمختار) وعبارة الجوهرة وان قال طلقی نفسك فقالت انا اطلق لم یقع قیاسا واستحسانا (ردالمحتار باب تفویض الطلاق ج۲ ص۲۵۸. ط. س. ج۳ ص۳۱۹). ظفیر

[2] صریحه الخ یقع بها ای بهذه الالفاظ وما بمعناها من الصریح الخ واحدة رجعیة (ردالمحتار باب الصریح ج۲ ص ۵۹۰. ط. س. ج۳ ص ۲۴۷). ظفیر

[3] الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب التعلیق ج۲ ص۲۹۰. ط. س. ج۳ ص ۳۵۲. ظفیر

وروسته دی زیات ناجوړه سو دعلاج دپاره بنګال ته ولاړی او خپل مینځي خطونه یي جاري ساتل، اوس دده په غیبوبت کی سکینه بی بی ددری طلاقو دعوه داره سوه، دمجلس په حضور کی ددوو امامانو په مخکی داسی دعوٰی وکړه چی زما خاوند زما دپلار سره دجګړی په وخت ویلی وو چی ته زما سره ځی اوکه نه؟ سکینه وویل چي زه به ستا سره نه ځم، دتکرار څخه وروسته یی ماته دری طلاقه راکړی وه. چی دسکینه خوانبی اودخوانبی لور اوزوم شاهد موجود دی، چی دی شاهدانو ددرو طلاقو شاهدی ادا کړه، نوپه دی بناء مولوی صاحب دطلاقو حکم وکی، ددی څخه وروسته اصغر علی چی راغی اودښځی دطلاق کیدو خبره یی واوریده نواصغر علی دڅو کسانو په مخکی په قسم وویل چی ماخپله ښځه نه ده طلاقه کړی دجګړی په وخت کي مي یوازي دومره ویلي وه چي که ته زما سره ولاړه نه سي نوتاته به طلاق درکړم او دښځی څخه هم چی پوښتنه وسوه نوهغه هم داوایي چی زما دبېولو په باره کی ویلی وه نوموړ انکار وکی، نوده وویل چی که نه ځی نوطلاق به درکړم په دی حالت کی مذکوره پیش امام دشاهدانو څخه پوښتنه وکړه چی تاسو په مخکی وار ددرو طلاقو ورکولو شاهدی ادا کړه اوس ولی دروغ وایاست. نوشاهدانو جواب ورکی چی موږ ته دسکینه بی بی یورشته دار دا ویلی وه چی تاسی ددرو طلاقو ورکول بیان کړی، نو چی ددی رشته دار څخه پوښتنه وسوه نودی هم اقرار کوی چی ماپه غرض ددوهم واده کولو داسی ویلی وه نوپه مسئوله صورت کی به طلاق واقع وی اوکه نه؟

جواب: اصغر علی چی کم الفاظ بیان کړیدی چی ته زما سره نه ځی نوزه به طلاق درکړم، په دی سره طلاق نه دی واقع ځکه چی په دی کی دطلاقو وعده ده ایقاع دطلاقو نه ده او دطلاقو په وعدی سره طلاق نه کیږی، کما صرح به الفقهاء [1]، اودطلاقو شاهدانو چی دخپل بیان تغلیط وکی او دهمدغو الفاظو اقرار یی وکی چی کم خاوند بیان کړی دی نو ددوی شاهدی غیر معتبر اوساقط سوه خودقضاء دقاضی څخه وروسته دشاهدانو رجوع مبطل دحکم دطلاقو نه ده خو مولوی صاحب چی حکم دطلاقو کړی دی نه قاضی دی او نه حَکَم. فان رجعا قبل الحکم بها سقطت الخ وبعده لم یفسخ الحکم مطلقا لترجحه بالقضاء [2]. درمختار، حاصل داچی په مذکوره صورت کی دری طلاقه ثابت نه سوه، او سکینه بی بی دقانون موافق داصغر علی ښځه ده. فقط

---

(1) انا اطلق نفسی لم یقع لانها وعد (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب التفویض ج۲ ص۷۵۷. ط. س. ج۳ ص۳۱۹). ظفیر

(2) الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب الرجوع عن الشهاده ج۴ ص۵۴۹. ظفیر

دتعلیق غیر متعین په صورت کی په وخت دمرګ به طلاق واقع وي: **سوال:** (۲۳۴) دیوسړی او دده دښځی جنګ وسو خاوند دښځی سره ملګرو ښځو ته وویل چی که زه دا جهلم ته ونه رسوم نوزما پر ښځه دری طلاقه دی نو دتعلیق غیر متعین څه حکم دی؟

جواب: په دی صورت کی تعلیق بالطلاق وسو، نوکه خاوند شرط پوره نه کړی یعنی که جهلم ته داښځه ونه رسوی نودری طلاقه به دده پر ښځی واقع وی خو چی ددی وخت متعین سوی نه دی نوددی وجه څخه تراٰخری عمره پوری به انتظار کیږی اوپه وخت دمرګ به دری طلاقه واقع وی. قال فی الشامی بخلاف ما اذا کان شرط الحنث امرا عدمیا مثل ان لم اکلم زیداً اوان لم ادخل فانها لاتبطل بفوت المحل بل یتحقق به الحنث للیأس من شرط البر وهذا اذا لم یکن شرط البر مستحیلا الخ [1].

په تعلیق کی دشرائطو په وجود سره طلاق کیږی: **سوال:** (۲۳۵) یوسړی موافق درواج دقبیلی په وخت دنکاح دا لیکل وکړه چی که ښځه دکور څخه راوباسم یاسخت ښکنځل ورته وکړم یایی ووهم یاپه نفقه کی تنګی راولم نوزما دطرفه دی ښځی ته دری طلاقه دی په مجمع عام کی ددی شرطونو اقرار یی وکی وروسته دنکاح څخه په مذکوره کارونو کی یوکار واقع سو نوموافق دشرط دده پرښځه به دری طلاقه واقع وی اوکه نه؟

جواب: که دنکاح څخه مخکی یی داشرطونه لیکلی وی نودا لغوه دی اوددی هیڅ اثر به وروسته دنکاح څخه نه وی لکه چی په کتابونو دفقه کی دی چی: شرطه الملك حقیقة او الاضافة الیه [2] درمختار. اوکه دنکاح څخه وروسته یی دا شرطونه لیکلی وی نوپه وخت دوجود دشرط کی به دری طلاقه دده پر ښځه واقع وی. فقط

که ددومره ورځو خرچه ورنه کړم نوحق دخاوندوالی می نسته ، چی دطلاقو په نیت سره یی څوک ووایی نو دشرط دموجودیدو په صورت کی به طلاق واقع وی: **سوال:** (۲۳۶) په خاوند او ښځی کی تکرار وسو ددی څخه خاوند دا اقرار نامه ولیکله چی که ترشپږو میاشتو پوری خرچه ورنه کړم نوپر دی ښځي به زما دخاوندی څه حق نه وی بلکی چی داپه خپله خوښی چی هرځای هم نکاح کول غواړی نو ودی کړی نوپه دی صورت کی څه حکم دی آیا داښځه بله نکاح کولی سی اوکه نه؟

جواب: که خاوند دا الفاظ چی پردی ښځه زما دخاوندوالی حق نسته په نیت دطلاقو ویلی وی نوپه صورت دشرط دموجودیدو کی دده پرښځه طلاق بائن واقع سو [3] دعدی

[1] وګوره ردالمحتار باب التعلیق ج۲ ص۲۵۸ مطلب فی مسئلة الکوز، ط. س. ج۳ ص۳۴۹. ظفیر
[2] الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب التعلیق ج۲ ص۲۸۰. ط. س. ج۳ ص ۳۴۴. ظفیر
[3] وتنحل الیمین اذا وجد الشرط مرة (ایضا ج۲ ص ۲۸۸. ط. س. ج۳ ص۳۵۲). ظفیر

ځخه وروسته دابله نکاح کولی سی. فقط

طلاق یې دمهر دمعافي په شرط معلق کړې نوچې ترځو دامهر معاف نه کړي نوطلاق به واقع نه وي: **سوال:** (۲۳۷) دښځی دخاوند سره دا وعده وسوه چی خاوند به ماته طلاق راکړی اوزه به ورته مهر معاف کړم نوخاوند په دی الفاظو طلاق ورکی چی که ښځی مهر معاف کی نوزما دطرفه ځخه طلاق دی خوښځی دطلاق حاصلولو ځخه وروسته دمذکوره فیصلی پایبندی ونه کړه اودمهردعوٰی یی قائمه کړه، نوچی خاوند طلاق په شرط ورکړی وو، نوطلاق واقع سو اوکه نه؟

جواب: چی کله طلاق معلق وو دښځی دطرف ځخه په مهر معاف کولو پوری نوچی ښځی مهر معاف نه کی نوطلاق واقع نه سو. هذا حکم التعلیقات (۱)، کذا فی المعتبرات.

په مسئوله صورت کی طلاق واقع نه سو: **سوال:** (۲۳۸) دزید اودده دښځی پر یوه خبره تکرار وسو دده ښځه دغصي په حالت کی دکور ځخه ووتله دتللو اراده یې وکړه نوکله چی دا دورځی وخت وو، دبی پرده ګی او درسوایي بیره وه نوزید په غصه کی وویل یاد وساته چی ځنګه دکور ځخه دباندی ووتې نو تاته طلاق دی دده ښځه وبیریدله اوددی خپل قصد ځخه منع سوه، دشپی بحث او مباحثه وسوه نوخاوند دغصی په حالت کی دښځی ددباولو دپاره دباندي ووتی داوخت چی دبی پردګی ځه احتمال هم نه وو نودې دا خیال وکی چی زید یوځای ولاړنه سی نودده ښځه هم ورسره سوه او ددروازی ځخه دباندی راووته نوپه دی صورت کی پردی طلاق واقع سو اوکه نه؟

جواب: په دی صورت کی طلاق واقع نه سو کما ہومذکور فی کتب الفقہ فی یمین الفور (۲).

که قرآن کریم نه وایي نوطلاق به درکړم نونه طلاق ورکول لازم دی اونه کفاره: **سوال:** (۲۳۹) زید خپلی ښځی ته تهدیداً قسم واخستی چی ته قرآن کریم نه وایي نوزه به تاته طلاق درکړم اوس دده ښځی ځه پاری دقرآن کریم ختمي کړی اواوس کله کله دقرآن کریم سبق هم وایي نوپه صورت دنه ختمیدو دقرآن شریف کی پر زید طلاق ورکول لازم دی اوکه یا دقسم کفاره ؟

جواب: په دی صورت کی نه طلاق ورکول لازم دی اونه کفاره دقسم واجب ده. فقط

---

(۱) وتنحل الیمین اذا وجد الشرط مرة (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب التعلیق ج۲ ص۲۸۸. ط. س. ج۳ ص۳۵۲). ظفیر

(۲) وشرط للحنث فی قوله ان خرجت مثلا فانت طالق لمرید الخروج فعله فوراً لان قصده المنع عن ذلك الفعل عرفا ومدار الایمان علیه الخ (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار مطلب یمین الفور ج۳ ص۱۱۵. ط. س. ج۳ ص۷۶۱). ظفیر

که یې ولیکل چې دومره ورځې نفقه درنه کړم نو ته به په درو طلاقو طلاقه سې اوبل واده به کولې سې نو څه حکم دی؟ **سوال**: (۲۴۰) یوسړی خپلی ښځی ته ولیکل چی که زه ستا نفقه ترشپږو میاشتو پوری درنه کړم یا ستا داجازی څخه بغیر بل واده وکړم نو تاته اختیار دی چی ته خپل ځان په دری طلاقو طلاق کړی او وروسته دعدی څخه بل واده وکړی ددی څخه وروسته دخاوند څخه بعض افعال صادر سوه اوښځی ته په معلومیدو سره ښځه پټه خوله پاته سوه څه حکم دی؟

جواب: داختیار په لفظ کی عدم تبدیل دمجلس شرط دی چی مجلس بدل سو نو اختیار ساقط سو. کذافی الدرالمختار (1).

که په دی غولی کی روژه ونه نیسم نو پر ښځی طلاق دایی وویل نو په بل ځای کی اوسیدی او روژی یی ونیولی: **سوال**: (۲۴۱) ما دغصی په حالت کی وویل چی څوك په دی غولی کی روژه ونیسی نوپرده به ښځه طلاقه وی داجمله ما دخپل ځان په باره کی وویل اوس ما لره څه کول په کاردی، روژه ونیسم اوکه یې ونه نیسم، په روژه نیولو کی په نکاح کی څه نقصان راځی اوکه نه؟

جواب: داخو ښکاره ده چی درمضان شریف روژی به ساتی اودا هم ښکاره ده چی موافق دشرط په روژی نیولو باندی به طلاق واقع کیږی نوداسی کول په کار دی چی په دی صحن کی روژه مه نیسه یعنی روژه یو بل ځای ته ولاړسه اوهلته یی ونیسه روژه په دې غولی کی چی کم ته نسبت دشرط سویدی نه دی نیول په کار. فقط

زما ښځه که ترفلانی تاریخه پوری را ونه لیږی نوطلاق به واقع سی داجمله یی ولیکله نوڅه حکم دی؟ **سوال**: (۲۴۲) یوسړی دخپلی ښځی پلار ته خط ولیکی چی زما ښځه ترفلانی تاریخه پوری ماته را ولیږی کنې طلاق به واقع سی، یعنی مطلقه به ګڼل کیږی دښځی پلار خوش آمدی وکړه اوخاوند یی راضی کی، چی ترمذکوره تاریخه پوری ستا ښځه نه سی درتلی، او وروسته به یی بیا درولیږم، نوپه دی صورت کی داښځه طلاقه سوه اوکه نه؟

جواب: په دی صورت کی که ددی ښځی پلار ترتاریخ مذکوره پوری داښځه خاوند ته ونه لیږله نوطلاق به واقع سی اوښځه به طلاقه سی په وجه دوجود دشرط (2) اودسړی راضی

---

(1) فلما ان تطلق فی مجلس علمها به الخ لا تطلق بعده ای المجلس (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب التفویض ج۲ ص۷۵۵. ط. س. ج۳ ص۳۱۵). ظفیر

(2) فالکنایات لا تطلق بها الا بنیة او دلالة الحال الح فنحو اخرجی واذهبی وقومی الخ (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب الکنایات ج۲ ص۷۳۵. ط. س. ج۳ ص۲۹۶). ظفیر

کیدل دپخوانی تعلیق ابطال نه سی کولی. ([1]) فقط

ښځې ته يې وويل چې که صورت دې ښکاره کې نو همدا طلاق دی، څه حکم دی؟ سوال:

(**۲۴۳**) يو سړی دناراضتيا په حالت کې ښځې ته وويل اوس زما دکور څخه ولاړه سه که صورت دې وښووی نوهمدا طلاق دی، په داسې ويلو سره به رجعي طلاق واقع وی اوکه بائن طلاق؟ که بائن طلاق وی نو دتجديد دنکاح ضرورت به وی اوکه دحلالې؟

جواب: په دی لفظ سره چې زما دکور څخه ووزه که دده نيت دطلاقو وو نو بائن طلاق واقع کيږی اودا الفاظ چې که صورت دی وښووی نوهمدا طلاق دی، په دی سره رجعي طلاق واقع کيږی اوکه په مخکی لفظ کی نيت دطلاقو وو، چې دهغه دوجې څخه طلاق بائن واقع سو، نوپه دوهم لفظ سره به هم طلاق بائن واقع کيږی په دی صورت کی دوه طلاق بائن واقع سوه دتجديد دنکاح ضرورت دی، او دحلالې ضرورت نسته. فقط

که په دې احاطه کې اوسيدل وکړم نو زما ښځه طلاقه دايې وويل نوڅه حکم دی؟ سوال:

(**۲۴۴**) ما قول العلماء الذين وارث الانبياء ايدهم الله تعالى بمزيد الاتقاء والبقاء چې يو سړی په وجه دجگړی دمور اوپلار وويل چې که زه په دی احاطه کی اوسيدل وکړم چې په کمه احاطه کی تاسی اوسيږی نوزما ښځه به په دری طلاقو طلاقه وی، اوس پوښتنه داده چې دی به دلته په اوسيدو باندی حانث وی اوکه نه؟ مطلقا چې دی په دې کی اقامت کوی اوکه په طور دعبادت داخليږی نو هم به حانث وی؟ علاوه ددی څخه داهم په خدمت کی عرض دی چې زما په وخت دتلفظ کی داوسيدو نيت وو، يعنی زما دا اراده وه چې که زه په دی کور کی اوسيږم نو زما ښځه به پرما په دری طلاقو طلاقه وی نوقسم کوونکی په دی احاطه کی يوکور چې دهغه دروازه دی احاطی ته وه هغه يې بنده کړه او ددی دروازه يې بلې احاطی ته وايستله نو آيا اوس دی حانث دی اوکه نه؟

جواب: په اوسيدو به حانث کيږی او صرف په داخليدو به نه حانث کيږی دې کور ته چې په دغه احاطه کی دی که څه هم ده دروازه بدله کړې. فقط

که دفلانی سره خبری وکړم نو زما ښځه به دنکاح څخه ووزی اوبغير دحلالی به په نکاح کی نه راځی دا تعليق دی: **سوال**: (**۲۴۵**) يو سړی قسم واخيستی چې که ما ددروغو قسم واخيستی يا مې دفلانی سره خبری وکړی نوزما ښځه به دنکاح څخه ووزی اوبغير دحلالي به زما په نکاح کې رانه سی، نوپه وخت دتحقق دشرط کی به کم طلاق واقع وی اوکه دوباره شرط موجود سی نوبيا به هم طلاق واقع سی اوکه نه؟

---

[1] وتنحل اليمين اذا وجد الشرط (ايضا باب التعليق ج۲ ص ۲۸۸. ط. س. ج۳. ص ۳۵۲. ظفير

جواب: که شرط موجود سو نوطلاق مغلظ واقع سو او دحلالی څخه وروسته که داول خاوند په نکاح کی دوباره راسی اودوباره دغه شرط موجود سی نوبیابه طلاق نه وی واقع: اوقال نویت البینونة الکبرٰی الخ (درمختار) وفی الدر المختار باب التعلیق وفیها کله تنحل الیمن الخ اذا وجد الشرط مرة الخ لا فی کلما الخ فلا یقع ان نکحها بعد زوج الخ (۱). فقط

دا ویل چی زه ځومره ودونه هم کوم نو دری طلاقه به واقع وي: **سوال**: (۲۴۲) یوځو سړیو دطلاقو خبری کولی یوسړی وویل چی زه ځومره ودونه هم کوم نو دری طلاقه به وي، نو په دی صورت کی داسړی واده وکی نو آیا دده پر ښځه به طلاق وی اوکه نه؟ اوکه واقع وی نو ددی دویلو په وخت ده ته دامسئله نه وه معلومه !

جواب: په داسی ویلو سره چی څنګه په سوال کی لیکلي دی واقعی چی کله دی نکاح وکړی نودده په ښځه به دری طلاقه واقع سی ځکه چی ذکر ددې مسئلې وو اوتذکره پر منکوحه باندی دطلاق واقع کیدلو وه اوهم دامراد به واخیستل سی اوجهل عذر نه دی (۲).

داویل چی زه خپلی پنځوس په زور وانخلم نو زما ښځی ته دری طلاقه: **سوال**: (۲۴۷) یو سړی خپل اکا ته چی زه هغه پنځوس روپی چی زما پرتا دی اوزه داستا څخه وانخلم نو زما پرښځه به دری طلاقه وی، اوس که دا اکا په خپله خوښی سره روپی ورکړی نو څه حکم دی؟ اوکه په خوښی سره یې ورنه کړی اودی یې په زور وانه خیستلی سی نو بیا څه حکم دی؟

جواب: که اکا په رضا سره روپی ورکړی نویمین ساقط سو اودا سړی به حانث نه وی او دده ښځه به طلاقه نه وی: وکذا لو حلف ان یجره الی باب القاضی ویحلفه فاعترف الخصم او ظهر شهود سقط الیمین لتقیده من جهة المعنٰی بحال انکاره، درمختار (۳). اوکه دی په خپلی رضاء سره ورنه کړی او دی یی په زور سره وصول نه کړی سی نو چی یمین مطلق دی نو ددی وجه څخه دی به دژوند په اٰخر کی حانث سی او دده ښځه به طلاقه سی که تردغه وخته پوری ژوندی پاته سوه کذا فی الدرالمختار والشامی (۴).

---

(۱) الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ج۲ ص ۷۸۸. ط. س. ج۳ ص ۳۵۲. ظفیر

(۲) والاضافة الیه کانه نکحت امراة اوان نکحت امراة وکذا کل امراة ویکنی معنی الشرط الا فی المعسنقة باسم او نسب او اشارة فلو قال المرأة التی اتزوجها طالق تطلق بتزوجها (درمختار باب التعلیق ج۲ ص۷۸۰. ط. س. ج۳ ص۳۴۴). ظفیر

(۳) الدرالمختارعلی هامش ردالمحتارکتاب الایمان مطلب حلف لایفارقنی ج۳ ص۱۴۲. ط.س. ج۳ ص۷۹۷. =

دنابالغ خاوند اقرار معتبر نه دي: **سوال**: (۲۴۸) یوسړي دخپلې لور نکاح دبل سړي دځوی سره په دې اقرار وکړه چې تردومره موده پورې به هلك بې اجازته یوځای نه ځی کنې بې دطلاقو ځخه به ښځه پرده حرامه سي هلك دا اقرار ولیکې او بیا خلاف شرط بې اجازته یوځای وتښتېدی په دې صورت کې طلاق واقع سو اوکه نه؟

جواب: دنابالغ اقرار اووعده معتبر نه دي، په دې صورت کې دهلك په تیښتې سره طلاق واقع نه سو او شرط لغوه دی. فقط

وي ویل چې که دفلانې ځخه ماسوا دبلې ښځې سره نکاح وکړم نو دېته طلاق، نو په دې صورت کې باید ځه حیله وسي: **سوال**: (۲۴۹) خالد وویل که زه دسلمه ځخه علاوه دبلې ښځې سره نکاح وکړم نودیته طلاق نو اوس په کمه حیله سره نکاح کولی سی؟

جواب: په دې صورت کې به پردې منکوحه باندې طلاق واقع وي اووددې حیله فقهاؤ په ذریعه دفضولي لیکلې ده. فلیراجع (¹).

تعلیق په یو وار ختمیږي په دوباره نکاح کې طلاق نه کیږي: **سوال**: (۲۵۰) عمر قسم واخستې چې زه به دزبیدې سره نکاح نه کوم که وکړم نو زبیدې ته طلاق اوس که یو وار یې په نکاح کې راولي نوطلاقه به سي، نو بیا دوباره نکاح کولی سی اوکه نه؟

جواب: داقسم به په یو وار ختم سي دوباره نکاح دزبیدې سره کولی سی، وفیها کلها تنحل ای تبطل الیمین ببطلان التعلیق اذا وجد الشرط مرة الخ (²). فقط

دا یې وویل دمهر په بدله کې مې خپله ښځه حرامه کړه، نوځه حکم دی؟ **سوال**: (۲۵۱) یو سړي شاپه شا دخپلې ښځې په باره کې وویل چې نفس دفلانې چې زما ښځه ده په بدل دمهر چې پرذمه زما واجب دی په یوطلاق بائن مې حرامه کړه اوطلاقه مې کړه ښځې چې واوریدل نووی ویل چې هرګز به زه خپل خاوند دخپل مهر ځخه بری الذمه نه کړم، نوپه دی صورت کې طلاق واقع سو اوکه نه؟

(⁴) حلف لیاتینه فهو ان یاتی منزله او حانوته لقیه ام لا فلو لم یاته حتی مات احدهما حنث فی اخر حیاته وکذا کل یمین مطلقة (درمختار) ای لا خصوصیة للاتیان بل کل فعل حلف ان یفعله فی المستقبل واطلقه ولم یقیده بوقت لم یحنث حتی یقع الیأس عن البر الخ وتحقق الیأس عن البر یکون بفوت احدهما (ردالمحتار کتاب الایمان مطلب خاف لایخرج الی مکة ج۳ ص۱۱۱. ط. س. ج۳ ص۷۵۷). ظفیر

(¹) والحیلة فیه ما فی البحر من ان یزوجه فضولی ویجیز بالفعل کسوق الواجب الیها (ردالمحتار باب التعلیق ج۲ ص۶۸۱. ط. س. ج۳ ص۳۴۵) حلف لایتزوج فزوجه فضولی فاجاز بالقول خبث وبالفعل لایحنث به یفتی. خانیه، وکل امرأة تدخل فی نکاح فکذا فاجاز نکاح فضولی بالفعل لایحنث (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار کتاب الایمان مطلب کل امراة تدخل فی نکاحی ج۳ ص۱۸۸. ط. س. ج۳ ص۸۳۲). ظفیر

(²) الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب التعلیق ج۲ ص۲۸۸. ط. س. ج۳ ص۳۵۲. ظفیر

جواب: كما لوقال طلقتك على الف درهم لا يقع مالم تقبل، ([1]) شامی نو معلومه سوه چی په دی صورت کی طلاق واقع نه سو. فقط

که ستا شی می اخیستی وی نو طلاق: **سوال**: (۲۵۲) زید دعمر ښځه په حقیقت کی یو قیمتی شی پورته کی عمر زید ته وویل ووایه چی که ما داستا شی اخیستی وی نوزما ښځه طلاقه ده زید وویل که ستاشی می اخیستی وی نوطلاق، دا الفاظ جبراً بغیر دنیت ښځه زید وویل نوطلاق واقع سو اوکه نه؟

جواب: که دالفظ چی، که ستا شی می اخیستی وی نوطلاق، دبلی ښځی په خیال کولو سره زید ویلی وو او دخپلی ښځی خیال یی په زړه کی نه وو او دیته یی نسبت کول دطلاقو په نیت کی نه وو نو دزید پرښځه هیڅ قسم طلاق ونه سو ([2]).

که جلا نه یې کړم نو زما ښځی ته طلاق یوه میاشت وروسته یی جلا کی، نوڅه حکم دی؟

سوال: (۲۵۳) یو ورور بل ورور ته وویل چی ته په شراکت کی کار ښه نه کوی که زه ستا ښځه مال جدانه کړم نوزما ښځه طلاقه ددې ښځه یوه میاشت وروسته یی مال جلا کی په دی بعض عالمان وایي طلاق واقع سو اوبعض وایي چی طلاق واقع نه سو اوس په دی صورت کی دچا قول صحیح دی؟

جواب: په دی صورت کی طلاق واقع نه سو په دی صورت کی دعدم وقوع دطلاق فتوٰی صحیح ([3]) ده (ځکه چی ده مال جلا کی نوشرط موجود نه سو. ظفیر)

دنکاح څخه مخکی تعلیق لغوه دی: **سوال**: (۲۵۳) زید دخپلی لور نکاح دبکر سره وکړه په دی شرط چی که بکر دزید په کور کی نه اوسيږی او امداد په کارو بار کی نه کوی نو هنده به طلاقه وی اوس که بکر وعده خلافی وکړه نو داوعده خلافی به طلاق وی اوکه نه؟

جواب: که زید دنکاح څخه مخکی دبکر سره تحريراً وتقريراً تعليق مذكور کړی وو نودا لغو دی طلاق به واقع نه وی. فلغا قوله لاجنبية ان زرت زيداً فانت طلاق فنكحها فزارت الخ ([4]) درمختار. اوکه دنکاح څخه وروسته یی شرط کړیدی نوپه صورت دنه پوره کولو دشرط پرهنده به طلاق واقع سی. شرطه الملك كقوله المنكوحة اومعتدته ان ذهبت فانت

([1]) ردالمحتار باب الخلع ج۲ ص۷۲۸، ط.س. ج۳ ص۴۴۲. ظفير

([2]) ويؤيده ما فى البحر لوقال امرأة طالق اوقال طلقت امراة ثلاثا وقال لم اعن امراتى يصدق اهـ (ردالمحتار باب الصريح ج۲ ص۵۹۱. ط. س. ج۳ ص۲۴۸). ظفير

([3]) واذا اضافه الى الشرط (هدايه ج۲ ص۳۷۴) باب الايمان فى الطلاق. ظفير

([4]) وګورئ: الدر المختار على هامش ردالمحتار ج۲ ص۲۸۱، ط.س. ج۳ ص۳۴۵. ظفير

طالق اوالاضافه اليه الخ (١). (درمختار)

په امید دوفاء باندی دطلاقو تعلیق: سوال: (٢٥٥) یو سړی قسم واخیستی چی ما دفلانی سړی څخه هیڅ امید دوفا نه دی ساتلی که ساتلی می وی زما ښځه دی پرما طلاقه وی، چی دوه واره یی دا الفاظ وویل نوپه دی صورت کی طلاق واقع سو اوکه نه؟

جواب: دقسم کوونکی څخه دی پوښتنه وسی چی آیا امید دوفا ده ته وو اوکه نه؟ که نیت اوامید دوفاء وو نوپه دوه واره کی دوه رجعی طلاقه واقع سوه اوکه امید دوفاء نه وو نوبیا طلاق واقع نه سو (٢).

بی داجازی څخه په تللو باندی دطلاقو تعلیق او ددی حکم: سوال: (٢٥٦) یوسړی خپلی ښځی ته وویل چی که ته بی اجازته دخپل پلار کورته ولاړی نوتاته طلاق دی، نوښځه بی اجازته ولاړه نوطلاق واقع سو اوکه نه؟

جواب: په دی صورت کی شرعًا طلاق واقع سو، کذا فی الدرالمختار (٣)، اوطلاق رجعی سو اوپه عده کی رجوع بی دنکاح څخه جائزده، اودعدی څخه وروسته نکاح بی دحلالی جائز ده (٤). فقط

بې له اجازې په تللو باندی دطلاقو تعلیق او ددی حکم: سوال: (٢٥٧) یوسړی پردی ښځه وتښتوله، دده څخه یو عالم داسی طلاق واخیستی چی ددی ښځی سره چی زه کله نکاح وکړم چی په هری حیلی سره چی هم وسی نو دا ښځه به پرما مطلقه مغلظه وی اوس نو دنکاح دجواز څه صورت سته اوکه نه؟

جواب: اقول وبالله التوفيق قال فی الدرالمختار: كل امراة تدخل فی نكاحي الخ فكذا فاجاز نكاح فضولي بالفعل لايحنث الخ ومثله ان تزوجت امرأة بنفسي او بوكيل او فضولي او دخلت في نكاحي بوجه ما الخ وانما ينسد باب فضولي لو زادا واجزت نكاح فضولي ولو بالفعل فلا مخلص له الخ (٥) وقال الشامي وقال الفقيه ابوجعفر وصاحب الفصول حيلته ان يزوجه فضولي بلا امرهما

---

(١) ايضا ج٢ ص٢٨٠. ط. س. ج٣ ص ٣٤٤. ظفير

(٢) فاذا اضافه الى الشرط وقع عقيب الشرط اتفاقا مثل ان يقول لامرأته ان دخلت الدار فانت طالق (عالمگيرى كشورى ج٢ ص٤٤٠ ط. س. ج٣ ص٤٢٠). ظفير

(٣) وتنحل اليمين اذا وجد الشرط مرة الخ (الدرالمختار على هامش ردالمحتار ج٢ ص٢٩٠. ط. س. ج٣ ص ٣٥٢). ظفير

(٤) واذا طلق الرجل امرأته تطليقة رجعية او تطليقتين فله ان يراجعها فی عدتها رضيت بذالك او لم ترض الخ (هدايه ج٢ ص٣٧٣). ظفير

(٥) الدرالمختار على هامش ردالمحتار كتاب الايمان مطلب كل امرأة تدخل فی نكاح ج٣ ص١٨٩. ط. س. ج٣ ص٨٤٢. ظفير

فيجيزه هو فيحنث قبل اجازة المرأة لا الى جزاء لعدم الملک ثم تجيزه هي فاجازتها لا تعمل فيجددان العقد فيجوز اذ اليمين انعقدت على تزوج واحد الخ [1] شامی.

دثبوت دشرط څخه وروسته به طلاق واقع وي: سوال: (٢٥٨) دعبدالرحمٰن دعبدالرزاق دلور سره نکاح وسوه دايجاب اودقبول څخه يې مخکې يا ددې څخه وروسته عبدالرزاق خپل زوم عبدالرحمٰن ته وويل چې که ته ددې ښار څخه بل ښار ته ولاړې (يعنی سره داهل او عياله دپاره داوسيدو) نوزه به خپله لور ستاسره نه پرېږدم چې ددې سره عبدالرحمٰن هم اقرار وکې چې صحيح ده که زه بل خوا ته منتقل سوم نو زموږ او ستا دلور يعنې دخپلې بي بي سره به مې هيڅ تعلق اوواسطه نه وي ياکه ماداسې وکړل نوزما ښځه پر ما حرامه يادېته طلاق، اويايې خپلې ښځې ته وويل چې که تازه مثلا دلاهور څخه ملتان ته داوسيدو دپاره بوزم نوزما اوستا به څه تعلق نه وي ته به پرما حرامه يا تاته به طلاق وي، نوپه وخت دوجود دمذکوره شرط دده ښځه به طلاقه وي اوکه نه؟

جواب: طلاق چې معلق په شرط وي نوپه وخت دوجود دشرط به واقع کيږي نو که طلاق صريح يې معلق کړی وو نوبيا له نيته وروسته دتحقق دشرط څخه به واقع وي اوکه په لفظ دکنايي يې تعليق کړی وي نوکه په نيت دطلاقوسره يې دا الفاظ ويلي وي نودشرط دتحقق څخه وروسته به طلاق واقع کيږي په درمختار کې دي چې: وتنحل اليمين بعد وجود الشرط مطلقا لکن ان وجد في الملك طلقت [2] الخ وفي باب الكنايات منه ففي حالة الرضاء تتوقف الاقسام الثلثة على نية الخ [3]. فقط

دې ويل چې پنځوس روپې ورکړم او داسې ونه کړم نو زما پرښځې طلاق او شل روپې يې ورکړې، څه حکم دی؟ سوال: (٢٥٩) فتو شاه اوکرم شاه چې ودونه يې کړيدي، اودواړو دانجونو مور اوپلار ته داشرط ليکلی ورکې چې که موږ پر شلم ٢٠ تاريخ دبيساکھ دپنځوس روپې په ورکولو سره خپلې ښځې کورته بو نه زو، يعنې که پنځوس روپې ادا نه کړو اوپر تاريخ را نه سو نوزموږ ښځې په موږ په درې طلاقو سره حرامې دي. اوس فتو شاه پر مقرره تاريخ باندې راغې خو نقدې يې صرف شل روپې راوړې او کرم شاه حاضر نه سو، نوپه دې صورت کې دکرم شاه او دفتو شاه ښځې طلاقي سوې اوکه نه؟

جواب: چې شرط دطلاقو موجودسو نوطلاق واقع سوځکه چې معلق طلاق په وخت دتحقق دشرط واقع کيږي، وروسته چې کله پنځوس روپې پر دې مقرر تاريخ دواړو اداء نه کړې

---

[1] ردالمحتار كتاب الايمان مطلب ايضا ج٣ ص ١٨٩. ط. س. ج٣ ص ٨٤٧. ظفير
[2] الدرالمختار على هامش ردالمحتار باب التعليق ج٢ ص ٦٩٠. ط. س. ج٣ ص ٣٥٢. ظفير
[3] ايضا باب الكنايات ج٢ ص ٦٤٠. ط. س. ج٣ ص ٣٠٠. ظفير

او یو پکښې حاضرهم نه سو نوپر دواړو ښځو دری دری طلاقه واقع سوه (۱). فقط

چې کم ځای ته په تللو یې طلاق معلق کړی نوهلته په هره حیله تللو سره به طلاق واقع وی:

سوال: (۲۲۰) زید ښځې ته معلق طلاق ورکی چې که زه دفلانی چك مځکې ته ولاړسم نو زما ښځه طلاقه، اوس که داسړی دغه مځکه یادغه چك مځکه واخلی اوولاړ سی نو دده ښځې به طلاقه وی اوکه نه؟ ځکه چې زید طلاق معلق کړی دی چې دیار فلانی چك ته ولاړسم نوزما ښځه به طلاقه وی، اوس دی داچك اخلی اوخپل ملکیت ته تلل غواړی په دی صورت کی دتللو څه جواز سته اوکه نه؟

جواب: دمسئلې جواب دادی، چې مبنٰی دأیمانو پر الفاظو ده نه پر اغراضو لکه چې په درمختار کی دی چې: الأیمان مبنیة علی الالفاظ لاعلی الاغراض (۲) الخ، نوپه مسئوله صورت کی په وجه دعموم دلفظ که زید په دغه چك کی څه مځکه واخلی او دېته ولاړ سی نودده ښځه طلاقه سوه کما هو حکم التعالیق.

په مذکوره صورت کی به طلاق واقع وی: **سوال:** (۲۲۱) عبدالعزیز خپلی ښځی ته دا اقرار نامه ولیکله چې زما دښځې حلیمې اوزما دځو ورځو څخه جګړه وه نن دجرګی په مخکی دافیصله وسوه چې زه اقرار کوم چې زه به خپله ښځه په ښه شان سره ساتم، اودوهم عقد به نه کوم ترڅو چې دازما په نکاح کی وی، که ددی اقرار خلاف وکړم، نوزما ښځې ته به اختیار وی چې دعدالت یا دخاندان په ذریعه طلاق واخلی، که زه طلاق ورنه کړم نوهمدا اقرار نامه دی طلاق وګڼل سی، نوچی کله دحلیمی پلار حلیمه رخصته نه کړه، نو عبد العزیز دوهمه نکاح وکړله نوپه دی صورت کی پرحلیمی طلاق واقع کیږی اوکه نه؟

جواب: په دی صورت کی یعنی چې کله خاوند دوهمه نکاح وکړه نو دده پر مخکی ښځه طلاق واقع سو (۳). فقط

په کالی او روپی باندی یې دری طلاقه معلق ولیکل نودشرط په موجودیدو سره دده پر ښځې به طلاق واقع سی: **سوال:** (۲۲۲) زید خپل خسر ته دپنځو سړیو په مخکی ددی مضمون خط ولیکی چې که زموږ کالی چې کم ستا دلورسره دی راکړی اومهر معاف کړی اوپنځه سوه روپی زیاتی ورکړی نوستا لور ته به دری طلاقه وی خسرګنی ته په خبر رسیدو

---

(۱) وتنحل الیمین بعد وجود الشرط مطلقا لکن ان وجد فی الملك طلقت (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب التعلیق ج۲ ص ۶۹۰. ط. س. ج۳ ص ۳۵۲). ظفیر

(۲) الدرالمختار علی هامش ردالمحتار کتاب الایمان مطلب الایمان مبنیة علی الالفاظ ج۳ ص ۹۹. ط. س. ج۳ ص ۷۴. ظ

(۳) وتنحل الیمین بعد وجود الشرط مطلقا (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب التعلیق ج۲ ص ۶۹۰. ط. س. ج۳ ص ۳۵۲). ظفیر

باندی اوس زید انکار کوی، اوپنځه سړی ددی خبری شاهدی ادا کوی چی زموږ په مخکی یی داخط لیکلی دی نوپه دی صورت کی به داسړی صادق ګڼل کیږی اوکه نه؟

جواب: چی کله دزید تحریر موجود دی اوددی لیکوونکی هم پنځه کسان بالغان عاقلان مسلمانان معتبر عادل شاهدان موجوددی، نوکه په واقع کی زید ددی شاهدانوپه مخکی دا الفاظ ویلی وی نوتعلیق ثابت سو، اوپه صورت دشرط موجودیدو کی به مغلظ طلاق واقع وی اوبیا بغیر دحلاله ځخه به داول خاوند دپاره حلاله نه وی (۱). فقط

خاوند وویل چی که دپلار کره ولاړی نوطلاق، اوس دپلار دمرګ ځخه وروسته ولاړه سی نو څه حکم دی؟ **سوال**: (۲۲۳) زید خپلی ښځی هندی ته وویل چی که ته دخپل پلار کره ولاړی نو تاته طلاق نوهنده دخپل پلار دمرګ ځخه وروسته ولاړه نو په دی صورت کی به پردی طلاق واقع وی اوکه نه؟

جواب: په دی صورت کی پرهنده طلاق واقع سو، ځکه چی دپلار کور ته دپلار دمرګ ځخه وروسته هم دپلار کور ورته ویل کیږی، په شامی کی دی چی: اذا علمت ذالك ظهرك ان قاعدة بناء الایمان علی العرف معناها ان المعتبر هو المعنٰی المقصود فی العرف من اللفظ المسمٰی (۲) وفیه ایضا اعلم انه اذا حلف یدخل دار زید فداره مطلقا دار یسکنها الخ (۳). فقط

دشرطونو دلیکلو ځخه وروسته چی عمل باندی ونه کړی نو دده ښځه به طلاقه وی اوکه نه؟

سوال: (۲۲۴) یوسړی لاندینی شرطونه دشاهدانو په مخکی ولیکل اوبیا یې ددی پابندی ونه کړه نوآیا په وجه دعدم تعمیل درابع اودسادس شرط یا دتمامو شرطونو په موجب دشریعت محمدی ﷺ منکوحه ښځه مطلقه بائنه کیدی سی اوکه نه؟ که کیدی سی نوځنګه؟ یعنی پخپله به مطلقه تصور سی اوکه نه دوخت دحاکم اودښار دقاضی داجازی ضرورت دی؟ اوعده به دکله ځخه شروع وی؟ چی دشرطونو تفصیل دادی؟

۱. خپله ښځه به ښه په خوشحالی سره په خپل کور کی اباده ساتم یعنی نان او نفقه به دخپل وس مطابق ښه برابره ورکوم اودځه خبری به تکلیف نه ورکوم خپله ښځه به په خپل کورکي، چی واقع دی په موضع جستروال تحصیل انباله ضلع امرتسر کی، ساتم علاوه ددی ځخه بل ځای ته به یی دخسر یا دښځی درضاء ځخه بغیر نه بیایم.

---

(۱) فان اختلفا فی وجود الشرط فالقول له مع الیمین لانکاره الطلاق الخ. لیکن دلته شاهد موجود دی نودخاوند خبره به معتبره نه وی. ط. س. ج۳ ص۳۵۲. ظفیر

(۲) ردالمحتار للشامی کتاب الایمان مطلب الایمان مبنیة علی الالفاظ ج۳ ص..... ظفیر

(۳) ایضا مطلب لایضع قدمه فی دار فلان. ط. س. ج۳ ص ۷۲۱. ظفیر

۲. خپله ښځه به دمور اوپلار اوددی دنژدی خپلوانو کره دتلو اودراتلو څخه به نه منعه کوم یعنی ددی رخصت به وی چی زما په اجازه سره دمور اوپلار یا دخپلو خپلوانو کره دچا دغم او دښادی پرموقع به ځی راځی.
۳. که داول او ددوهم لمبر شروطو ښځی ته څه قسم تکلیف ورکړم اوآباده یی نه کړم، یعنی چی نان اونفقه ورنه کړم نومبلغ ۱۰ روپی دپاره دنان اودنفقی چی کم ځای وغواړی زما دحاضر دولت اوزما دهرقسم جائیداد څخه سره دخرچی وصول کړی ماته به عذر نه وی.
۴. که دنن څخه وروسته څه داسی فعل دخسر یا دښځی سره چی دقانون خلاف وی یاڅه قسم الزام په خپل خسر یاپه ښځه ولګوم نودحاکمانو دوخت په مخکی په وجه ددی تحریر به کاذب یم. بلکی مرتکب دګرفتاری دفوجداری به یم.
۵. چی کم زیورات ماخپلی ښځی ته په وخت دنکاح ورکړی دی یابه یی ورته بیا ورکوم نو داتمام زیورات علاوه دمهر معجل اوغیر معجل څخه زما ښځه به ددی مالکه وی زما اوزما دیوه رشته دار حق به نه وی.
۶. په صورت دعدم ادائیګی دنان اودنفقی په شرح الصدر سره متواتر شپږ میاشتی یعنی په موجب دنمبر ۳ ترشپږو میاشتو پوری لس روپی دپاره دنان اودنفقی ورنه کړم دارکم که دلمبر۴ دمواخذی فوج داری هم مرتکب سم نودخپلی ښځی څخه به دست بردار یم اوددی تحریر مطابق به دا بائنه متصور وی، نودا ښځه مطلقه کیدی سی اوکه نه؟
جواب: که دنکاح څخه وروسته دامذکوره شرطونه لیکل سوی وی اوخاوند دنکاح څخه وروسته داشرطونه تسلیم کړی نوپه موجب دشپږم شرط په صورت دخلاف ورزی دتمامو شرطونو دده ښځه به مطلقه بائنه وی. کما هو حکم التعالیق. وتنحل الیمین بعد وجود الشرط مطلقا الخ، شامی ج۲ ص۵۰۲. (۱) فقط

وی ویل چی که فلانی داکار نه وی کړی نوطلاق، ددی څه حکم دی؟ **سوال**: (۲۲۵) که یمین غموس دطلاقو سره وسی نوطلاق واقع کیږی اوکه نه؟
جواب: که یوسړی داسی ویلی وی چی که ده فلانی کار په زمانه ماضی کی نه وی کړی نودده ښځه به طلاقه وی اوپه حقیقت کی ده داکارنه وی کړی نودده ښځه طلاقه سوه (۲).

که چا دطلاق مغلظه په شرط باندی بغیر داوریدو دستخط یا ګوته ولګوله نو څه حکم دی؟

---

(۱) الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب التعلیق ج۲ ص۲۹۰. ط. س. ج۳ ص۳۵۲. ظفیر
(۲) وتنحل الیمین بعد وجود الشرط مطلقا (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب التعلیق ج۲ ص ۲۹۰. ط. س. ج۳ ص ۳۵۲). ظفیر

سوال: (۲۲۲) دیو جومات امام دمرزایي خیالاتو څخه علاوه شریر اوپه مسلمانانو کی نفاق اواختلاف اچوونکی دی اواکثره مسلمانان په ده پسی لمونځ نه کوی اوبعض دده طرفدار وریسی لمونځ کوی، ددغه ځای اوسیدونکو په اتفاق سره یوبل عالم ته وویل چی ته زموږ دجومات دابادی اوداهل اسلام داتفاق دپاره چی څه تجویز کړی موږ به یی منظور کړو، عالم وویل چی ماته یوشرط ولیکی اوګوته باندی ولګوی چی تاسی به زما فیصله په اتفاق سره منی، دوی وویل چی ته کم شرط غواړی نووي لیکه، اوموږ به باندی ګوتی اودستخط وکړو، نوددی وجه دی عالم داشرط ولیکی چی موږ ټول دااقرار کوو چی موږ کی چاهم ددی فیصلی خلاف وکی نودغه وخت به زموږ ښځی پرموږ په دری طلاقو طلاقی سی اوزموږ ښځی به پرموږ ترابد الابد پوری مطلقی ثلاثه وی اوپر موږ به مطلقا حرامي وی، ددی څخه وروسته مولوی صاحب مذکور هریوه ته وویل چی ګوری داشرط ډیرسخت دی که تاسوته منظوروی نوګوتی ولګوی نوهریوه بغیر داوریدو څخه ترلیکل سوی شرط لاندی ګوتی ولګولی او دستخطونه یی وکړه، ددی څخه وروسته مولوی صاحب فیصله ولیکله چی دا امام اوباسی اودجومات امام ترپنځلس ورځو پوری مقرر کړی نوپه اهل اسلام کی به اتفاق وی کنې نه، بیایی داشرط فیصله ددواړو کلیو اوسیدونکوته واوروله نودوی وویل چی زموږ پرسرسترګو قبول، اوبعضي چپ سول، اوس په عملی طور باندی بعض کسان دغه امام نه باسی، اوحال دادی چی دفیصلی یوه میاشتی وسوه نوپه دی صورت کی به دټولو ښځی مطلقی ثلاثه وی اوکه دبعضو یادهغه خلګو چی کم دده په ساتلو راضی وی صرف ددوی ښځی به طلاقی وی، په دی شرط کی داهم تحریر وه چی په موږ کی دچا ښځه نه وی نوهغه به دفیصلی دنه منلو په صورت کی مدرسه نعمانیه لاهور ته دوه سوه روپی نقدی ورکوی نوچی کم مسلمانان فیصله نه منی اوملا نه باسی نودوی به دوه سوه روپی مدرسه نعمانیه ته ورکوی اوکه نه؟

جواب: چی کمو خلګو داشرط اوفیصله واوریده اووی ویل چی زموږ پرسر اوسترګو، نو په صورت دخلاف کولو دهغوی ښځی به طلاقی وی اوچی کم چپ پاته دی نو دهغوی ښځی به طلاقی نه وی، اوکله چی ګوته لګول دټولو دشرط داوریدو څخه مخکی وو، نوهغه به معتبر نه وی، اوچی کم خلګ دفیصلی مخالفت کوونکی دی اوبی واده دی نو پرهغوی چی کمه جرمانه لګول سویده هغه باطله اوخطا ده ددوی پر ذمه مدرسه نعمانیه

ته دوه سوه روپۍ ورکول ضروري نه دي، قال في الدرالمختار لاياخذ المال في المذهب (١) الخ وفي الحديث لا يحل مال امرء مسلم الا بطيب نفس منه الحديث (٢). فقط

په دوهمه نکاح يې طلاق معلق کړې نو ددوهمې نکاح څخه وروسته به طلاق واقع سي:

سوال: (٢٢٧) زيد دکريمې سره نکاح وکړه اولياوو دکريمې دزيد څخه يوستامپ ددې شرطونو وليکې چې که بې داجازې دکريمې څخه دوهمه نکاح وکړې نوپر دواړو منکوحو به درې طلاقه واقع وي، څوکاله وروسته زيد بې داجازې دکريمې څخه دوهمه نکاح دحليمې سره وکړه. نو په دې صورت کې شرعي حکم څه دی؟

جواب: که زيد دکريمې سره دنکاح څخه وروسته داليکل کړې وي اويايې اقرار په دې کړې وي اويا مذکوره شرط يې په ژبه تسليم کړې وي نومفتي لره روا دي چې حکم په وخت دتحقق دشرط کې دطلاقو وکړې اودمفتي کار هم دادي چې په دې طور جواب ورکړې چې که خاوند مذکوره شرط تسليم کړې وي په ژبه يا په ليکلو اودا شرط موجود وي نو طلاق واقع دی. کما هو حکم التعاليق (٣).

نکاح ته اضافت وسو اوتعليق وسو نو دشرط دموجوديدو سره به ښځې ته دطلاقو حق وي:

سوال: (٢٢٨) زيد دهندې سره په دې شرط نکاح وکړه چې که بې درضاء دهندې ترمعلوم وخته پورې زيد داپريږدي اوولاړ سي نوهندې ته به اختيار وي چې که غواړې نودا دې خپل ځان طلاق کړي اويا دې بله نکاح وکړې نواوس په تقدير دوجود دشرط پردې به جزاء مرتبه وي اوکه نه؟ که وي نوپه دې داشبهه کيږي چې دقواعد کليه اودبعضو فقهاؤ دتصريح څخه معلوميږي چې په نکاح بالشرط الفاسد معلق کيدو سره نکاح صحيح او شرط بلا ثمر ګرځي که داسې وي نوبيا دشرط فاسد کيدو څه معنٰی ده؟

جواب: داصورت دطلاقودتعليق دی که دنکاح څخه وروسته داتعليق سوی وي يامخکې دنکاح څخه په طريقې داضافت الی النکاح مذکوره تعليق موجود سوی وي نودشرط په موجوديدلو سره به جزاء مرتب وي اوهغه طلاق چې دهغه اختيار ښځې ته ورکول سوی دی هغه به ثابت وي اوکه مذکوره شرط دنکاح څخه مخکې بې له اضافت الی النکاح ذکر سوی وي نوشرط باطل اولغودی اونکاح صحيح (٤) ده. فقط

---

(١) الدرالمختارعلى هامش ردالمحتارباب التعزيرمطلب في التعزير باخذ المال ج٣ ط. س. ج٣ ص ٢١. ظفير

(٢) مشكوٰة المصابيح. ظفير

(٣) وتنحل اليمين بعد وجود الشرط مطلقًا (الدرالمختار على هامش ردالمحتار باب التعليق ج٣ ص ٢٩٠. ط. س. ج٣ ص ٣٥٢). ظفير

(٤) وشرطه الملك حقيقة كقوله منكوحته او معتدته ان ذهبت فانت طالق والاضافة اليه اى الملك الحقيقى الخ =

دا ویل چي ددې ښځه وروسته مې کمه ښځه په نکاح کې ده یابه راځي پر دې درې طلاقه، څه حکم دی؟ **سوال**: (۲۶۹) یوسړي دګناه کبیره کولو ښځه وروسته تائب کیږي اودتوبې په وخت داهم وايي چې که ددې ښځه وروسته داګناه کبیره ما وکړه نو داوس ښځه وروسته چې کمه ښځه زما په نکاح کې وي یاچې زه دکمې ښځې سره نکاح وکړم نودابه په درې طلاقو سره په هروار طلاقه وي، نودداسې سړي مخکنې منکوحه یا چې کمه وروسته راتلونکې ده ، دهغې دمذکوره الفاظو سره څه حکم دی؟

جواب: په دې صورت کې که شرط موجود سو نو دده پرښځه به طلاق واقع سي اوکه دایې ویلي وي چې زه کمه ښځه په نکاح کړم نوهغه مطلقه ثلثه ده نو چې دکمې ښځې سره دې نکاح وکړي نو پر هغې به درې طلاقه واقع سي. کمافی الدرالمختار وفیها کلها تنحل الیمین اذا وجد الشرط مرة الا فی کلما فانه ینحل بعد الثلث الخ (١). فقط

وې لیکل چي په خسرګنۍ کې ونه اوسیږم نوښځې ته دطلاق اختیار دی نوپه دې صورت کې څه حکم دی؟ **سوال**: (۲۷۰) یوسړي محمد خان دخپلې ښځې متعلق دا ولیکل چې دوی میاشتې وروسته یعني داستعفاء دمنظوریدو ښځه وروسته زه به دخسرګنۍ کره اوسیږم، که زه دخسرګنۍ کره ونه اوسیدلم نو ددولت خان لور ته اختیاردی چې په خپله طلاق اچولې سي نو ددې تحریر مطابق انجلې ته دنکاح اختیار حاصل دی اوکه نه؟

جواب: دخاوند په لیك کې دطلاقو متعلق دا الفاظ دي چې که په خسرګنۍ کې ونه اوسیږم نو ددولت خان لور ته اختیاردی چې پخپله طلاق اچولې سي، نوداتعلق داختیار دی په خسرګنۍ کې که نه اوسیدی نو دده ښځې ته اختیار دی چې داطلاق واخلي که دغه وخت دې طلاق واخیستې نوطلاق به پردې واقع وي او دعدې ښځه وروسته بله نکاح ددې صحیح ده اوکه دې ښځې دغه وخت وانه خیستې نوطلاق واقع نه سو (٢).

وې ویل چي که دجومات کار وکړم نوښځه طلاقه، اوس که کار وکړي نوڅه حکم دی؟

سوال: (۲۷۱) دجومات دملا صاحب اودزید څه جګړه وسوه په جومات کې نوملا صاحب په غصه کې وویل چې اوس که دې دجومات کار وکړي نودده ښځه طلاقه سوه، چې لفظ دطلاق ورته یاد نه دی چې یووار یې ویلې دی اوکه نه دوه وار یا ددې ښځه هم زیات، په

= کان نکحتك فانت طالق (الدرالمختارعلی هامش ردالمحتارباب التعلیق ج۲ص ۲۸۰ . ط.س. ج۳ ص۳۴۴). ظ

(١) الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب التعلیق ج۲ ص۲۸۸ . ط. س. ج۳ ص۳۵۲. ظفیر

(٢) وشرط للحنث فی قوله ان خرجت فانت طالق الخ فعله فوراً لان قصده المنع عن ذلك الفعل عرفا ومدارالایمان علیه وهذه تسمی یمین الفور الخ (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار کتاب الایمان مطلب فی یمین الفور. ط. س. ج۳ ص۷۲۱). ظفیر

داسی صورت کی ملا که دجومات کار وکړی نو دده ښځه به طلاقه وی اوکه نه؟
جواب: په داسی تعلیقاتو کی دعرف اعتبار وی، ده چی مطلقا ویلی دی چی اوس که دجومات کار وکړم نودده ښځه به طلاقه وی نومراد یی خپل ذات دی نو ددی ځخه وروسته که دی دجومات کار وکړی نودده ښځه به طلاقه سی، اوچی دایی یادنه دی چی یوطلاق یی ویلی دی اوکه زیات نو په دی کی به غالب ګمان ته وګوری چی کم غالب ګمان وی په هغه به عمل وسي، اوشامی دخانیه ځخه نقل کړیدی چی که یوجانب مرجح نه وی نواحتیاط دادی چی زیات دی واخلی، ولعله لانه یعمل بالاحتیاط خصوصًا فی باب الفروج الخ شامی جلد ثانی ([1]).

<u>په مذکوره صورت کی څه حکم دی؟</u> سوال: (۲۷۲) زید په حالت دغصه کی عمر ته خطاب وکی وې ویل چی جېړا شخص یاجیکو شخص. یاهرڅوك چی زما دورور (بکر) سره تعلق لری نوزما ښځه به طلاقه وی که ما ددغه سړی سره تعلق وکی نودا الفاظ ترجمه دکل من ده که دکلما وغیره اوپه تقدیر ددی چی طلاق واقع کیږی په تعلق ساتلو ددغه سړی سره چی دی تعلق ساتی دمذکور دورور سره چی دا ماتوونکی دحلف سو اوکه په درو سره پای ته رسیږي، اوداتعلیق خاص ددغه سړی سره دی اوکه دخاندان دحالف سره اوپه کم حالت کی دحالت اجتماعی اوانفرادی چي په تعلق ساتلو سره به طلاق واقع وی نو کمه یوه حیله سته چی په مذکوره صورت کی په حالت اجتماعی کی پرهر سړی مذکور طلاق واقع نه سی؟
جواب: دا الفاظ ترجمه د: کل من یفعل هذا الفعل ده، نوپه دی حالت کی چي هرڅوك هم دحالف دورور سره تعلق کوی اودی ورسره تعلق وکړی نودده ښځه واقع سوه، اوداتعلیق خاص په ذات دحالف پوری مخصوص دی که دده اهل او عیال دهغه سړی سره تعلق وساتي چی دده دورور سره تعلق کوی نودده ښځه به طلاقه وی. قال فی الدرالمختار: وفیها کلها تنحل الیمین ببطلان التعلیق اذا وجد الشرط مرة الا في کلما فانه ینحل بعد الثلث لاقتضائها عموم الافعال کاقتضاء کل عموم الاسماء الخ (درمختار ([2])) قال فی الشامی ولو قال المصنف الا فی کل وکلما لکان اولی الخ ([3]). او داسی یوه حیله چی دشرط دوجود سره طلاق واقع نه سی بنده ته معلومه نه ده !!!

<u>دښځی داجازت ځخه بغیرکه نکاح وکړم نوداطلاقه سوه ددی ځخه وروسته نکاح وکړی نوڅه</u>

([1]) ردالمحتار باب الصریح قبیل باب الطلاق غیر المدخول بها ج۲ ص۴۲۴. ظفیر
([2]) الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب التعلیق ج۲ ص ۶۸۸. ط. س. ج۳ ص ۳۵۲. ظفیر
([3]) ردالمحتار باب التعلیق ج۲ ص ۶۸۸. ط. س. ج۳ ص ۳۵۲. ظفیر

حکم دی؟ سوال: (۲۷۳) زید دهندی سره نکاح وکړه او دا شرط یی ولیکی چی دمذکوره موصوفه ښځی روح چی په بدن کی وي ترهغو پوری ددی داجازی څخه بغیر دوهم واده یانکاح نه سم کولی، اوکه ددوهم واده ضرورت محسوس سی نوموصوفه ښځی ته به تمام مهر ورکړم اوبل کور به ورته جوړ کړم اودی ته به رجسټری ورکړم اوشپږ روپی دمیاشتی به کورته دخرځ اودخوراك دپاره ورکوم اوکه ددی داجازی څخه بغیر په پټه بله ښځه په نکاح کړم نودوهمی ښځی ته به دری طلاقه اتفاقًا وي، دباری تعالی په حکم اولنی ښځه ډیره سخته ناجوړه سوه اوپه شان دلیونی سوه قابل دخدمت پاته نه سوه نودیته یی دری طلاقه ورکړل او دبلی ښځی سره یی نکاح وکړه، نواوس دادوهمه ښځه طلاقه ده اوکه نه؟

جواب: اقول وبالله التوفیق، په ردالمحتار جلد ثالث ص۱۳۲ باب الیمین فی الضرب والقتل وغیر ذالك کی دی: وعلی هذا قال لامرأته کل امرأة اتزوجها بغیر اذنك فطالق فطلق امرأته طلاقًا بائنًا اوثلاثًا ثم تزوج بغیر اذنها فطلقت لانه لم تتقید یمینه ببقاء النکاح الخ (۱)، نوددی روایت څخه معلومه سوه صراحة چی دادوهمه ښځه طلاقه سوه.

دعهد نامې خلاف وسو نو طلاق به وي اوکه نه؟ سوال: (۲۷۴) په بنګال کی په عهد نامه دنکاح کی دڅه شرطونه لیکلو څخه وروسته لیکی چی په دی کی کم شرط فوت سی نوښځی ته به دری طلاقه وی که داعهد نامه یی دنکاح په وخت یا وروسته دنکاح څخه ناکح ته اورولی وی یایی ښوولی وی اودستخط یی باندی کړی وي اوناکح په ژبه هم څه نه وی ویلی نوپه دی صورت کی که مذکوره شرط نه سی پوره نوښځی ته به دری طلاقه وی اوکه نه؟

جواب: دنکاح څخه وروسته داتعلیق صحیح کیدی سی اوپه صورت دشرط دموجودیدو کی به طلاق وسی. فقط

چی تریوی میاشتی پوری رانغی نو طلاق، ددی ویلو څخه وروسته چی خاوند مړسو نو څه حکم دی؟ سوال: (۲۷۵) دیوسړی ښځه وتښتیده اوخاوند نوټس ورکړی چی که تریوی میاشتی پوری رانغله نو ماتاته طلاق درکړیدی داسړی مړسو، اوس دده په ملکیت کی دحصی دعویداره کیدی سی اوکه نه؟

جواب: که داښځه تریوی میاشتی پوری رانغله نودشرط مطابق داطلاقه سوه (۲) اودا دخاوند وارثه نه ده او دخاوند په ترکه کی به حصه نه اخلی خو مهر دخپل خاوند څخه

---

(۱) ردالمحتار باب الیمین فی الضرب والقتل ج۳ ص ۱۸۸. ظفیر

(۲) وتنحل الیمین بعد وجود الشرط مطلقا (الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب التعلیق ج۲ ص۲۹۰، =

اخیستی سی، اوکه داتعلیق وغیره دخاوند په مرضی کی سوی وو او بیا دمطلقي په عده کی خاوند مړسو نوښځه به دخاوند وارثه وی، والتفصیل فی کتب الفقه.

که فلانی تاریخ ته دومره روپی هره میاشت منی آرډر نه کړم نو ښځه طلاقه، اوس که روپی په بله طریقه سره ورسوی نوطلاق نه کیږي: **سوال**: (۲۷٦) دزید څخه دالیکل واخیستل سول چی زه به خپل ښځی ته څلور روپی ماهواره منی آرډر لیږم که دیوی میاشتی په (۲۸) تاریخ یې ونه لیږم نو دا اقرار نامه به په شان دطلاق نامه تصور سی که په بلی طریقی سره داروپی ورسوم نودا به باطل ګڼل کیږی نوپه دی صورت کی که زید روپی منی آرډر نه کړی بلکی په بلي طریقی سره یی ور ورسوی نوطلاق به وی او که نه؟

جواب: دمنی آرډر کولو ضرورت نسته که په بله طریقه سره یی ور ورسوی نوطلاق به نه وی واقع ([1]). فقط

که زما دکور څخه ووتی نوته پرما حرامه یی دایی وویل نوڅه حکم دی؟ **سوال**: (۲۷۷) که یوسړی خپلی ښځی ته ووایي چی که ته زما دکور څخه دباندی یوځای تردی چی که دخپل مور اوپلار کره ولاړی نو پرما حرامه یی ، نوپه دی صورت کی څه فتوٰی ده؟

جواب: که په دی صورت کی ښځه دمور اودپلار کره ولاړه نو پر خاوند باندی به حرامه سی یعنی طلاق بائن به واقع سی ([2])، نو وروسته ددی څخه چی ښځه دباندی یادمور کره ولاړه، نودی سړی لره ددی سره دوباره نکاح په نوی مهر سره کول په کاردی. فقط

دښځی دا ویل چی که ترفلانی تاریخ پوری دی مهر اداء نه کړی نو زه به دی دښځی والی څخه وتلی یمه هیڅ هم نه دی: **سوال**: (۲۷۸) ښځی خاوند ته په ذریعه دخط ولیکل چی که ترفلانی مودی پوری تامهر ادا نه کی نو زه به ستا دښځی والی څخه خپل ځان جلا وګڼم اودوهم عقد به وکړم نو دمیعاد څخه وروسته به دا طلاقه وی اوکه نه؟

جواب: دښځی په داسی ویلو اوپه تحریر سره طلاق نه سی کیدی ([3]). فقط

ښځی ویل که داسی ونه کړم نوښځی ته اختیار سته دابله طریقه اختیار کړی نوڅه حکم دی؟

سوال: (۲۷۹) زید دهندی سره په دی شرط نکاح وکړه چی که زه تردرو کالو پوری هندی ته خرڅ ورنه کړم نودیته اختیار دی که دا دخپل ګذران اودځوانی دخواهش پوره کولو

= ط.س. ج۳ ص۳۵۲). ظفیر

([1]) مقصد دروپو وررسول دی چی په هره ذریعه سره وی. ظفیر

([2]) اذا اضافه الی الشرط وقع عقیب الشرط اتفاقا مثل ان یقول ان دخلت الدار فانت طالق (عالمگیری کشوری ج۲ ص۹۷. ط. س. ج۳ ص۴۲۰). ظفیر

([3]) دطلاقو مالك ښځه نه ده بلکی خاوند دی. ظفیر

دپاره څه بله طریقه اختیار کړی نو هنده ددی شرط په موجودیدو سره دبلی طریقی داختیارولو دپاره مختاره ده اوکه نه؟

جواب: که دزید نیت په مذکوره الفاظو دطلاقو وی نوپه وخت دموجودیدو دشرط هندی ته اختیار دطلاقو او دبل عقد سته (۱). فقط

دمذکوره صورت څه حکم دی: **سوال**: (۲۸۰) یوسړی په وخت دنکاح دنورو شرطونو سره داشرط هم لیکلی وو چی که په شپږو میاشتو کی دننه دمقرر زیور داداء کولوڅخه قاصر سم نو چی څه زما اوس خرڅ سویدی یا بیا به خرڅ کیږی ددی څخه به بیزاره اوبی دعوٰی یم اودا نکاح به زما ساقطه اوکالعدم متصور وی او دوعدی تر پوره کولو پوری به زما څه حق دښځی اودخاوند نه وی اودزیور ورکولو څخه وروسته به ماته ټول حقونه حاصل وی، په دی موده کی ترشپږو میاشتو پوری مکمل پرده وه اوهیڅ تعلق دښځی اودخاوند نه وو، خوخاوند دشپږو میاشتو دتیریدو څخه وروسته ترننه پوری خپله وعده پوره نه کړه چی اوه کاله اوڅلور میاشتی کیږی، نودا نکاح قائمه ده اوکه نه؟ اومقرر مهر زر روپی به دده څخه وصولیدلی سی اوکه نه؟

جواب: په دې صورت کي طلاق واقع نه سو او دمهر مؤجل غوښتنه مخکي تر طلاق یا مرګ نه سي کیدلی، او دبیزاره کیدو شرط لغو دی. فقط

چی څوک مجبوره سی اوقسم ورڅخه واخیستل سی چی که دی راز ظاهر کړی نو چی دچا سره واده کوی هغه به باندی طلاقه وی، څه حکم دی؟ **سوال**: (۲۸۱) که یو سړی چاته جبراً داقسم ورکړی چی که تا زما فلانی راز چاته ووایه نوچی کله ته واده وکړی نو ستا ښځه طلاقه ده، اودا سړی مجبوراً قسم وکړی بیادی داراز ښکاره کړی نودی سړی ته دنکاح څخه وروسته څه حکم دی؟ اونکاح به صحیح وی اوکه نه؟ اوکه طلاق واقع سی نو رجوع به کولی سی اوکه نه؟

جواب: دده پرښځی به دنکاح څخه وروسته طلاق واقع سی اوپه عده کی دیته رجوع کولی سی ځکه چی معلق طلاق یو دی اوکه په عده کی یی رجوع ونه کړه، نوکه یې دعدی څخه وروسته بیا ددی سره نکاح وکړه نو بیابه طلاق واقع وی. فقط

معلق شرط بیرته نه سی اخیستل کیدی: **سوال**: (۲۸۲) یو سړی یو دوست مجبوره کی او دایی ورته وویل چی دانکاح صحیح نه ده معلق طلاق ولیکه اودستخط وکړه، نواوس دا

---

(۱) ذکر ما یوقعه غیره باذنه وانواعه ثلاثة تفویض وتوکیل ورسالة والفاظ التفویض ثلاثة تخییر وامر بید ومشیئة قال لها اختیاری اوامرك بید ینوی التفویض الطلاق لانهما کنایة فلا یعملان بلانیة الخ (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ج۲ ص۷۵۳. ط. س. ج۳ ص۳۱۵). ظفیر

شرط واپس کیدی سی او که نه؟

جواب: مذکوره شرط نه سی واپس کیدی، لقوله ﷺ ثلث جدهن جد وهزلهن جد، الحدیث (۱). فقط

په دهوکه سره یې دخاوند دخولی څخه وایستل چې ښځه می پر خپل ځان حرامه کړه نو څه حکم دی؟

سوال: (۲۸۳) دفدوي عقد وسو ددی څخه وروسته زما مخالفانو زه دهوکه کړم اوپه مایې دا الفاظ وویل چې فلانی ښځه ماپه خپل ځان حرامه کړه یعنی پرې می وښووله نوپه دی صورت کی نکاح پاته ده او که فسخه سوه؟ اوس څه کول په کار دی؟

جواب: په دی صورت کی مخکی نکاح فسخه سوه اودوباره نکاح کول په کاردی. فقط

که هنداره ونه ګوری نوته به طلاقه نه یی بیا خاوند ورته هنداره وښووله نوڅه حکم دی؟

سوال: (۲۸۴) دخاوند دژبی څخه هیڅ بی هیڅه ووتل که هنداره دی وکتل نوته طلاقه یې! که په هنداره کی دي ونه کتله نو طلاقه به نه یې ! بیا خاوند هنداره راواخیسته او ښځی ته یی وښووله نو طلاق واقع سو اوکه نه؟

جواب: په دی صورت کی طلاق واقع نه سو. فقط

وی لیکل چې که په شپږو میاشتو کی جائیداد ددوی په نوم منتقل نه کړم نو نکاح منسوخه او باطله ده، نوڅه حکم دی؟

سوال: (۲۸۵) یوسړی یوی ښځی ته دنکاح کولو څخه یوه ګهنتیه مخکی داوعده ولیکله چې زه به ددی ښځی په نوم چې زه ددی سره اوس نکاح کوونکی یم خپل فلانی جائیداد په شپږو میاشتو کی انتقال کړم، ترشپږو میاشتو پوری که می خپل جائیداد ددی ښځی په نوم انتقال نه کی نو دشپږو میاشتو په تیریدلو سره به دانکاح منسوخه اوباطله وی، اوس شپږ میاشتی تیری سوی خوده تراوسه پوری خپل جائیداد منتقل نه کړی، نودا نکاح باطله سوه اوکه نه؟

جواب: په دی صورت کی که خاوند مذکوره لفظ په نیت دطلاقو ویلی وی نو دده پر ښځی په صورت دوعده نه پوره کولو یوطلاق بائن به واقع وی او دنیت دحال دخاوند څخه باید پوښتنه وسی لکه چې په شامی کی دی: ومثله قوله لم اتزوجم اولم یکن بیننا نکاح او لاحاجة لی فیك الی ان قال ونفی النکاح فی الحال یکون طلاقًا اذا نوٰی الخ (۲).

چې څوک خپل ورور دطلاقو مالک کړی اوهغه دده ښځی ته طلاق ورکړی نو څه حکم دی؟

سوال: (۲۸٦) اسمٰعیل خپل مشر ورور آدم ته اختیار ورکړی چې زما ښځی خدیجی ته

---

(۱) مشکوٰة کتاب الطلاق والخلع ص۲۸۴، ولیس للزوج ان یرجع فی ذالك (عالمگیری کشوری باب تفویض الطلاق ج۲ ص۷۵. ط. س. ج۳ ص۲۸۷). ظفیر

(۲) ردالمحتار باب الصریح ج۲ ص۲۲۳. ط. س. ج۳ ص۲۸۳. ظفیر

دطلاق ورکولو اودنه ورکولو اختیار تاته دی نو آدم وویل چی مادخپل وررور ښځی خدیجی ته طلاق ورکړی نو آیا داواقع سو اوکه نه؟

جواب: په دی صورت کی پر خدیجی طلاق واقع سو کذا فی کتب الفقه (۱).

که ما ددی سره زنا کړی وی یا می اراده کړی وی نو چی دچا سره واده وکړم نو هغې ته طلاق دایی وویل نوڅه حکم دی؟ سوال: (۲۸۷) زید دمسماة زینب سره چی دعمر ښځه وه ناجائز تعلقات ساتل، چی کله عمرته داخبره معلومه اومشاهده سوه نوده زید جرګی ته راوستی اووی ویل چی ته زما دښځی سره ناجائز تعلقات ولی ساتی، نوزید انکار وکی، نوعمر وویل چی دا ووایه چی که ما ستا دښځی زینب سره زنا کړی وی اویامی اراده کړی وی نوچی کله زه واده وکړم نوزما پرښځه به طلاق وی، نوزید په وجه دبی علمی دا الفاظ وویل، نوپه دی صورت کی که زید نکاح وکړی نو دده دپاره شرعًا څه حکم دی؟ اوزید لره دنورو امامانو امام شافعی، امام مالك، امام احمد په مذهب باندی عمل کول صحیح دی اوکه نه؟

جواب: که په حقیقت کی زید دعمر دښځی سره زنا یا اراده دزنا کړی وی نو چی کله دی نکاح وکړی نو دده منکوحه به عند الحنفیة طلاقه وی اوپه نورو مذهبو باندی عمل کول حنفی لره صحیح نه دی، خوپه منکوحه باندی دطلاقو دنه واقع کیدو دپاره احنافو دا حیله لیکلی ده، چی ددی نکاح دی یوفضولی وکړی اودا سړی دی په فعل سره اجازه ورکړی مثلا داسی چی مهر ورولیږی، نو دده پر منکوحه به طلاق نه وی واقع، کما فی الدر المختار: حلف لایتزوج فزوجه فضولی فاجاز بالقول حنث وبالفعل لا (درمختار (۲)) قوله وبالفعل کبعث المهر لو بعضه بشرط ان یصل الیها وقیل الوصول لیس بشرط الخ شامی (۳).

که ستا دپاره ددی دلاس خوراک حرام وی نودری طلاقه، دایی وویل نوڅه حکم دی؟ سوال: (۲۸۸) یوسړی خپلی ښځی ته دپلار دخفه کیدو په وجه وویل چی که ستا دپاره ددی دلاس خوراك حرام دی نو ما دیته دری طلاقه ورکړی دی، نوپه دی صورت کی به طلاق واقع وی اوکه نه؟

---

(۱) ولوقال امر امرأتی بید فلان شهرا فهی علی الشهر الذی یلیه ویبطل بمضیه بلاعلم (عالمگیری کشوری ج۲ ص۷۹. ط. س. ج۱ ص۳۹۲) ولوقال لغیر طلق امرأتی فقد جعلت ذلك الیك فهو تفویض (ایضا. ط. س. ج۱ ص۲۹۳). ظفیر

(۲) الدرالمختار علی هامش ردالمحتار کتاب الایمان مطلب حلف لایتزوج فزوجه فضولی ج۳ ص۱۸۸. ظفیر

(۳) ردالمحتار کتاب الایمان مطلب ایضا ج۳ ص۱۸۹. ط. س. ج۳ ص۸۴۲. ظفیر

جواب: په دی صورت کی دده په ښځی طلاق واقع نه سو ځکه چی په کم شرط باندی ده طلاق معلق کړی وو، هغه شرط موجود نه دی، ځکه چی ددی دلاس خوراك حرام نه دی.

که حرامه وطی وکړم نوماته طلاق دایی وویل او دخری سره یی وطی وکړی نوڅه حکم دی؟

سوال: (۲۸۹) ماقسم اخیستی وو چی که ما زنا یاحرامه وطی یا لواطت وکی نوماته طلاق دی خو اوس په وجه دهیریدلو دقسم دطلاق څخه دخری سره دوطی مرتکب سوم، نو وطی دخری هم په داحلف کی داخلي دي اوکه نه؟ اودا هم یاد نه دی چی ماحلف دطلاقو مغلظه کړی وواوکه دبائن نوپه دی باره کی شرعًا څه حکم دی؟

جواب: وطی دحمار بیشکه په وطی حرام کی داخلي دي، اوچی په الفاظو دطلاق کی وطی حرام هم مذکوري دي ددی وجه څخه په مقتضٰی د: وتنحل الیمین بعد وجود الشرط مطلقًا ای سواء وجد الشرط فی الملك اولا، لکن ان وجد فی الملك طلقت الخ (۱)، درمختار شامی ج۲ ص**۵۴۴**، په وطی دحمار سره طلاق واقع سو نوکه تعلیق یی په دی لفظ سره کړی وی چی کم داستفتاء په اول کی ذکردی یعنی ماته طلاق دی، نوپه دی صورت کی یوطلاق واقع سو، اوکه ددری طلاقه په لفظ سره یی تعلیق کړی وي، نو حرمت مغلظه واقع سو، اوپه صورت دشك کی به یوطلاق واقع سی. کمافی الدرالمختار لوشك اطلق واحدة او اکثر فعلی الاقل الخ (۲).

که بکر دصالحي سره واده وکی نوزه به تاته طلاق درکړم نو دواده څخه وروسته طلاق واقع سو اوکه نه؟ **سوال**: (۲۹۰) زید خپلی ښځی هندی ته وویل چی که بکر چی دزید او دهندی زوی دی دصالحه سره چی دهنده خورزه ده واده وکړی نوپه خدای قسم چی هنده ته به طلاق ورکړم نوبکر دصالحی سره نکاح وکړه، نوهغه طلاقه سوه اوکه نه؟ اوپر زید باندی دقسم کفاره واجب ده اوکه نه؟

جواب: داصورت دطلاقو دوعدی دی نوطلاق واقع نه سو، په عالمګیری کی دی: کذا فی المحیط لوقال بالعربیة اطلق لایکون طلاقًا الا اذا غلب استعماله للحال فیکون طلاقًا، (۳) اوچی زید قسم واخیستی اومذکوره شرط موجود نه سو نو ددی وجه څخه که زید په خپل ژوند کی طلاق ورنه کړی نوپر ده کفاره دقسم لازمه ده اوپه حدیث شریف کی دی چی که یوسړی دبدی خبری قسم واخیستی نو ده لره په کاردی چی دغه بدکار دی نه کوی اودخپل قسم ماتولو کفاره دی ورکړی. فقط

---

(۱) الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب التعلیق ج۲ ص ۲۹۰. ط. س. ج۳ ص **۳۵۵**. ظفیر

(۲) الدرالمختار علی هامش ردالمحتار کتاب الطلاق ج۲ ص ۲۲۳. ط. س. ج۳ ص ۲۸۳. ظفیر

(۳) عالمګیری مصری. ظفیر

وی ویل چې که په دې دروازه ولاړې نوطلاق اوس چې په بله دروازه باندې ځې نوطلاق به نه وي: **سوال:** (۲۹۱) یوسړی خپلې ښځې ته یوې دروازې ته اشاره وکړه اووی ویل چې که ته په دې دروازه دباندې ولاړې نوپرتا درې طلاقه اوددې کور څخه دوتلو دپاره ډیرې دروازې دی دده غرض دغه وخت صرف بیرول وه اوپه دې پوهیدې چې داپه بله دروازه باندې دباندې تللی سی اودهمیشه دپاره یې ددباندې تللو څخه بندول نه وو مقصد، نو دا ښځه په بله دروازه باندې تللی سی، اوکه دادروازه بنده سی نودا په بله دروازه تللی سی اوکه نه؟

جواب: چې کله یې خاص دروازې ته اشاره کړې وه ویلی وی چې که ته په دې دروازه الخ نو په بله دروازه باندې ددباندې تللو په صورت کې به طلاق واقع نه وی اوددې دروازې بندولو په صورت کې به هم طلاق واقع نه وی لعدم تحقق الشرط. فقط

وی ویل چې که کور ته یې راولم نو طلاق واقع نه سو: **سوال:** (۲۹۲) زید تعلیق وکی چې زه خپلې ښځې هندې ته هم ددې په کور کې نفقه ورکوم اودا به دخپل کور څخه هیڅکله هم نه راولم، که داکور ته راولم نو دابه په ما باندې په درې طلاقو طلاقه وی ددې څخه وروسته هنده پخپله بې دچا دوینا څخه راغله، اوزید وساتله نوطلاق واقع سو اوکه نه؟

جواب: په دې صورت کې موافق دفقهاؤ دتصریح طلاق ونه سو ځکه چې تعلیق خپل کور ته په راوستلو وو چې خاوند دارانه وستله نوشرط موجود نه سو نوجزاء هم واقع نه سوه. لانه اذا فات الشرط فات المشروط، په درمختار کې دی: وتنحل الیمین بعد وجود الشرط ([1]) مطلقا ونظیره مافی الدرالمختار ان لم تجیئ بفلان اوان لم تردی ثوبی الساعة فانت طالق فجاء فلان من جانب آخر بنفسه اخذ الثوب قبل وفقها لایحنث الخ ([2]). فقط

وی ویل که عمر او ددې اولاد ته مځکه ورکړم نوپه ما ښځه طلاقه، دده زوم ته یې مځکه ورکړه نوڅه حکم دی؟ **سوال:** (۲۹۳) زید قسم واخیستی چې که زه عمر اودده اولاد ته مځکه په مزارعت باندې ورکړم نوزما ښځې ته درې طلاقه اوس دعمر زوم ته مځکه په مزارعت ورکولو سره به حانث وی اوکه نه؟

جواب: دعمر زوم ته مځکه په مزارعت ورکولو سره دی نه دی حانث اودده ښځه طلاقه نه ده. فقط

په ساده کاغذ راوتلو باندې یې طلاق معلق کړی وو لیکل سوی کاغذ راووتی نوڅه حکم دی؟

([1]) الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب التعلیق ج۲ ص۲۹۰. ط. س. ج۳ ص ۳۵۵. ظفیر
([2]) ایضا باب المذکور. ظفیر

سوال: (۲۹۴) په ښځه اوخاوند کی خفګان راغلی زید ښځه وطن ته ولیږله، اودایی وویل چی کله زما سړی تاته خط دروړی ساده کاغذ راووتی نوپوه سه چی ماتاته طلاق درکی، بیا دده خط راغی نو هغه ساده کاغذ را ونه وتی، بلکی څو شعرونه یی ښځی ته لیکلی وه، مثلا یو پریږده دری یاد کړه الخ نوپه دی صورت کی طلاق وسو اوکه نه؟

جواب: شرط موجود نه سو نوپه دی صورت کی دده ښځی ته هیڅ قسم طلاق واقع نه سو. فقط

چی په کمه کوتاهی یی طلاق معلق کړی وو دهغه په موجودیدلو به طلاق واقع کیږی:

سوال: (۲۹۵) دهندی خاوند زید دشریعت په عدالت کی پر بحث دنفقې یوه تغلیظنامه ولیکله چی دری شرطونه پکښی لیکلی وه:

۱. چی زما ښځه که زما اطاعت کوی اوزما سره اوسیږی نوپه حکم دعدالت دوی روپی ماهواره دری جوړي جامی اودوی جوړي پای زار په کال کی ورکوم اوکه خدا نخواسته مسلسل دځلورو میاشتو نفقه پرما راواوړی نو مدعیه زما ښځی ته به طلاق بائن وی.

۲. که صغریٰ زما ښځه مدعیه زما داجازی څخه بغیر او دخوښی خلاف زما دکور څخه دباندی قدم کښیږدی یابلي خواته ولاړه یابل ځای اوسیږی نوزه به خپلی ښځی ته بالکل نفقه نه ورکوم.

۳. که خدای نخواسته زه په حالت دناجوړی په حالت دقید وغیره څه آفت کی مبتلا سم چی ګټه نه سم کولی یاپه وجه دتنګستیا دخپل خوراك او چیښاك څخه محرومه سم نو په داسی حالت دمجبوری کی به دالفظ دطلاق مستند عدالت ته نه وی. وروسته زید په وجه دخپلی بی روزګاری اوپه وجه دپریشانی اودتنګستیا بل وطن ته ولاړی اودیوی میاشتی خرچه یی پیشګی په ذریعه دعدالت ورکړه او ددوو میاشتو نفقه یی په ذریعه دمنی آرډر یی را ولیږله، هنده دزید ښځه دزید دتللو څخه وروسته دوهمه ورځ دغه کور چی زید دښځی داوسیدو دپاره ورکړی وو، پریښووی اوبل کور ته ولاړه، ددی په معلومیدو زید رقم رالیږل مطابق ددوهم شرط بند کړل اودپنځه میاشتو دتیریدو څخه وروسته هندی په عدالت کی درخواست وکی چی ماته دپنځو میاشتو نفقه دخاوند دطرف څخه موصول نه سوه نو دشریعت دعدالت مفتیانو داول شرط صرف پر دی فقره نظر وکی چی (که خدای نخواسته چی دځلورو میاشتو نفقه مسلسل پرما واوړی نوزما ښځي ته به طلاق بائن وی) نودزید پرښځه یی دوقوع دطلاق بائن حکم وکی آیا هغه تعلیق چی موثر دطلاقو دی صرف داول شرط وجود ورته کافی دی اوکه نه دنورو شرطونو وجود هم ضروری دی؟

جواب: مخکی شرط چی مستقل دی اوپه وخت دتکلم داول شرط کی څه بل شرط خاوند نه وو ظاهر کړی نو چی وروسته کم قیدونه اوشرطونه یی ولګول نوهغه به داول شرط سره ملحق نه وی بلکه موافق داول شرط چی کله دځلورو میاشتو نفقه ښځی ته ورنه کړل سوه اوخاوند یی اداء نه کړه نوښځه به مطلقه بائنه سی، اوداول شرط په اخر کی صرف دا الفاظ دی (که خدای نخواسته دځلورو میاشتو نفقه مسلسله پرما راواوښته نوزما ښځه به مدعیه دبائن طلاق وی) نوموافق ددی الفاظو چی کله دځلورو میاشتو نفقه دخاوند پرذمه مسلسل لازم سی نوطلاق بائن به واقع سی، په دی شرط اوجزا کی داطاعت کولو اودیو ځای اوسیدلو هم څه قید نسته داپه خپله یومستقل کلام دی په ماقبل اوپه مابعد موقوف نه دی ددی وجه څخه عدالت چی کمه فیصله دوقوع دطلاقو کړیده صحیح (۱) ده.

فلانی تاریخ ته که کور ته رانغلی نو طلاق دغه تاریخ ته رانغله نوطلاق واقع سو: **سوال**: (۲۹۲) دبی بی بتول نومي ښځي دصدیق داکا دلور دیوبچی دواده پروګرام وو دی تقریب ته بتول دخپل مور اودسکه ورور سره دمور اوپلار دکوره چی په رایه پور کی دی سوریا ته ولاړه چی کله داخبره ددی خاوند ته معلومه سوه نو ددی خاوند دا لاندینی تحریر ولیکی اووی لیږی چی هغه تحریر دادی: مسماة بی بی بتول دپنځه نیمو کالو راهیسی زماپه عقد کی وه اوزما درضامندی څخه بغیر دبل کره ولاړه دیته زه په دی اقرار سره طلاق ورکوم چی که دا تاریخ ۱۲\ رجب سنه **۱۳۳۵** هـ ق ته په ۱۲ بجو پوری خپل کورته راسی نو ښه کنې په مذکوره تاریخ دمذکوره بالا وخت څخه دی وروسته خپل ځان طلاق وګنی. اوس عرض دادی چی بی بی بتول دسوریا څخه په تاریخ د ۱۲\ رجب سنه **۱۳۳۵**هـ رایه پورته راغله نو موافق دشریعت طلاق واقع سو اوکه نه؟ که وسو نو کم یو اوکه خاوند دابیا ساتل غواړی نوڅه صورت دی؟

جواب: په دی صورت کی بی بی بتول باندی رجعی طلاق واقع سو په عده کی دننه رجوع کولی سی. کما فی عامة کتب الفقه (۲).

چی کله دتعلیق مطابق دمور اوپلار کره ولانه ړه نوطلاق ثلاثه واقع سو: **سوال**: (۲۹۷) زید په حالت دغصی خپلی ښځی زینب ته چی کمه حامله ده دا وویل چی که ته ترصبا پوری خپل دمور اودپلار کره ولانه ړی نوپر تا دری طلاقه بائن، که زینب په دغه معلومه ورځ

(۱) فاذا اضافه الی الشرط وقع عقیب الشرط اتفاقا مثل ان یقول لامرأته ان دخلت الدار فانت طالق (عالمګیری کشوری کتاب الطلاق باب رابع فصل ثالث ج۲ ص۴۴۰. ط. س. ج۳ ص۴۲۰). ظفیر

(۲) فاذا اضافه الی الشرط وقع عقیب الشرط (ایضا ج۲ ص۴۴۰. ط. س. ج۳ ص۴۲۰). ظفیر

دمور اوپلار کره ولاړه نه سی بلکی په همدغه کلی کی اوسیږی نوپه دی صورت کی کم قسم طلاق واقع سو؟ اودرجوع څه صورت سته اوکه نه؟ دعدی نان او نفقه دزید پر ذمه دی اوکه نه؟ په وضع دحمل کیدو باندی چی کم هلك یا انجلی پیداسوه ددی دپالنی حق چاته دی اونفقه دچا پر ذمه ده؟

جواب: پرمقرره وخت باندی دمور اوپلار کره په نه تللو باندی ښځی ته دری طلاقه واقع سوه اودا مغلظه بائنه سوه اورجوع صحیح نه ده (۱) اوبی له حلالی داول خاوند سره نکاح نه سی کولی (۲) اوعده ددی وضع دحمل ده (۳) دحمل تروضع پوری نفقه ددی دخاوند په ذمه ده، اودحضانت په موده کی دماشوم پالنه دمور حق دی اوخرچه په ذمه دخاوند ده (۴).

<u>دنکاح څخه وروسته یی وویل که مخکنی ښځه راسره وه نودیته طلاق، ددی وجه څخه په پیدا کیدو به یې طلاق وی</u>: **سوال**: (۲۹۸) زید دهندی سره عقد کول وغوښتل اودنکاح څخه مخکی دا شرط وسو چی که دزید ښځه یا اولاد ثابت سوه، نوهم دافیصله به طلاق وی اودنکاح څخه وروسته زید هم دغه الفاظ دشرط چی کم یی دنکاح څخه مخکی ویلی وه (چي که زما ښځه یا اولاد ثابت سوه نوهم دافیصله به طلاق وی) وروسته تردې قرارداد دشرط مذکور وروسته ترنکاح دتحقیق څخه وروسته معلومه سوه چی دزید مخکنی ښځه او ددی څخه بچی هم سته، نوپه داسی صورت کی دزید ښځه هنده طلاقه سوه اوکه نه؟

جواب: چی زید دنکاح څخه وروسته دامذکوره الفاظ وویل اوشرط موجود سو نوهنده طلاقه سوه (۵).

<u>دتعلیق دطلاق منظورولو څخه وروسته شرط موجود سو نو طلاق به واقع وی</u>: **سوال**: (۲۹۹) زید دخپلی لور نکاح دبکر سره وکړه خو په دی شرط چی که بکر دری یا څلور میاشتی

---

(۱) فاذا اضافه ای الطلاق وقع عقیب الشرط (عالمگیری کشوری کتاب الطلاق باب رابع فصل ثالث ج۲ ص ۴۴۰. ط. س. ج۱ ص۴۲۰). ظفیر

(۲) وان کان الطلاق ثلثا الخ لم تحل له حتی تنکح زوجا غیره نکاحا صحیحًا ویدخل بها ثم یطلقها اویموت عنها (هدایه باب الرجعة ج۲ ص ۳۷۸)

(۳) وان کانت حاملا فعدتها ان تضع حملها لقوله تعالی واولات الاحمال اجلهن ان یضعن حملهن (ایضا باب العدة ج۲ ص۴۰۱). ظفیر

(۴) واذا وقعت الفرقة بین الزوجین فالام احق بالولد الخ والنفقة علی الاب الخ (هدایه باب حضانة الولد ج۲ ص ۴۱۳). ظفیر

(۵) واذا اضافه الی الشرط وقع عقیب الشرط (عالمگیری کشوری ج۲ ص ۴۴۰. ط. س. ج۳ ص ۴۲۰). ظفیر

کور پریږدی اوولاړ سی یادخاوند دکوره انجلی په وجه دجګړی راسی اودری یاڅلور میاشتی تیری سی نو پر مذکوره ښځه به دری طلاقه وی بکر داشرطونه قبول کړه، په تقدیر دوقوع دشرط مذکوره باندی به ښځه طلاقه وی اوکه نه؟

جواب: که خاوند دنکاح څخه وروسته داشرط قبول کړی وی اودطلاقو تعلیق یی منظور کړی وی نوطلاق به واقع وی کنې نه به وی، ځکه چی دنکاح څخه مخکی دا قسم شرط خطا دی (١). فقط

<u>**دشرط دموجودیدو څخه بغیر ښځی ته دطلاق حق نسته**</u>: **سوال**: (٧٠٠) یوسړی دیوی ښځی یعنی دهندی سره په دی شرط نکاح وکړه چی مذکوره ښځه که زما څخه دری میاشتي مخکی مهر طلب کړی نوزه به دیته مهر ورکوم کنې ښځی ته به دخپل نفس اختیار وی چی ځان په دی دوران کی طلاق کړی، دده دخپل خسر سره خوابده سوه، اوخسر دیو مولوی صاحب سره دزوم کور ته ورغلی، زوم په کور کی موجود نه وو، خو دده خسر ټول ګاونډیان راجمع کړل اومهر یی طلب کی دخپل لور، نوپه دی صورت کی مذکوره ښځه خپل نفس ته طلاق اچولی سی اوکه نه؟ اودده سره چی کم مولوی صاحب راغلی دی نو هغه په دعوی سره وایي چی زه بغیر دطلب دمهر ستا په خلاصون او ازادیدو سره دبل سړی سره نکاح کوم داقول څنګه دی؟

جواب: ښځه طلاق هلته اچولی سی چی شرط موجود سی اوشرط داوو چی ددرو میاشتو څخه مخکی که دازما څخه مهر طلب کړی اوزه یی ورنه کړم نودیته اختیار دی دطلاق اخیستو بغیر ددی شرط دتحقق څخه ښځی ته دطلاق اخیستو اختیار نسته، او چی کم مولوی صاحب داوایی چی بی دطلب دمهر اودتحقق دشرط څخه داښځه بله نکاح کولی سی، دی په غلطی دی. دده قول معتبرنه دی. کما فی الدرالمختار وفیها کلها تنحل ای تبطل الیمین ببطلان التعلیق اذا وجد الشرط مرة الخ (٢). فقط

<u>**چی کله په تعلیق کی یی مطلق جمعه وویل نو ددی څخه به مخکی جمعه مخصوصه نه وی ددی وجه څخه به طلاق نه وی**</u>: **سوال**: (٧٠١) مدیون دائن ته وویل چی که زه ستا دین جمعی ته درنه کړم نو زما پرښځه باندی دری طلاقه، نه خو یې جمعه په اول اوپه دوهم مقیده کړه اونه یی قرض په لړ اوپه ډیر یاپه ټول، بیایې څه قرض په مخکی جمعه ورکړی اوڅه یی په دوهمه جمعه ورکړی، په شاهدانو کی یو شاهد معتبر په لفظ داشهد وایي

---

(١) وتنحل الیمین بعد وجود الشرط مطلقا لکن ان وجد فی الملك طلقت (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب التعلیق ج٢ ص ٦٩٠. ط. س. ج٣ ص **٣٥٥**). ظفیر

(٢) الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب التعلیق ج٢ ص ٦٨٨. ط. س. ج٣ ص **٣٥٥**. ظفیر

چې معلّق جمعه داسې مقيده کړی وه چې که په دی جمعه یې ورنه کړم الخ اودپوره دین قید که څه هم دمعلق څخه نه دی اوریدل سوی خو دعرف اودقرینې دوجه داګڼل کیدل چې ټول قرض به په دی جمعه ورکوم دوهم معتبر شاهد په لفظ داشهد وايي چې تعین دزمان او تعیین ددین په کل سره دعرف دوجه څخه خیال ته راغلی وو ځکه چې بازاریان اوتاجران داسې دمطلق وعدی څخه راتلونکې جمعه هفته میاشت اوکال اخلی نودداسې شهادت اوعرف عام په وجه دمطلق جمعه څخه اوله به مرادوی اوکه نه؟ پراول تقدیر چې ده پوره دین په دی جمعه اداء نه کړی نودا اداء کول دڅه حصه ددین به اداء کول دتمام دین متصور وی چې دابه موجب دبرائت وی اوکه کالعدم به وی اوموجب به دحنث وی او دمعلق ښځه طلاقه سوه اوکه نه؟

جواب: چې جُمعه دحالف په کلام کې مطلق ده اودین هم مطلق دی نولهذا بقاعدة المطلق یجری علی اطلاقه، اوپه قاعدة: الایمان مبنیة علی الالفاظ لاعلی الاغراض درمختار باب الیمین [1] فی الدخول والخروج الخ، نوپه صورت مسئوله کې به حالف حانث نه وی اودده په ښځه به طلاق واقع نه وی. وتحقیقه فی الشامی فی تحت قوله الایمان مبنیة علی [2] الالفاظ شامی ج۳ ص۷۲.

دولې په څه شرط باندې طلاق معلق کول موجب دوقوع دطلاق نه دی: **سوال**: (۷۰۲) دهندی نکاح په حالت دنابالغتیا ددی پلار دزید نابالغ سره په ولایت دنیکه دده وکړه په وخت دنکاح لاندینی شرطونه مقرر سو ه:

۱. مهر معجل، دوه زره روپی به نقد اداء سی.

۲. په جی پور ښار کې دوه کورونه ددوه نیم زرو روپو مالیت چې دهغه کرایه به هنده علاوه دنان او نفقې څخه په ذاتی مصرف کې راوستلی سی، دابه واخیستل سی اوور به کول سی، زید ته به ددی دخرڅولو اختیار نه وی اونه درهن کولو.

۳. یوقیمتی کور ددوه زره روپو چې دهندی اودزید داوسیدو دپاره به په جی پور کې واخیستل سی چې دابه هم دهندی ملکیت ګڼل کیږی.

۴. موږ ټول سره داهل عیاله سکونت داجمیر به پریږدو اودلته په جی پورکې به اوسیږو، نوداول شرط ایفاء داسی وسوه چې ددوو زرو روپو نقدو پرځای هغه زیورات چې په وخت دنکاح ددوو زرو بیان سوی وه او وروسته دپنځلس سوو راووتل امانت کښېښول اودا اقرار یې وکې چې یوه میاشت وروسته به روپی ورکی اودابه واخلو چې دهغه ایفاء

[1] وګوری الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب الیمین فی الدخول والخروج ج۳ ص۹۹. ط.س. ج۳ ص۷۴۴. ظ
[2] ددی دپاره وګوری ردالمحتار باب الیمین فی الدخول والخروج ج۳ ص۹۹. ط. س. ج۳ ص۷۴۴. ظفیر

په دی وجه چی زیورات دمهر څخه کم وه ونه سوه، دباقی دری واړو شرطونو پوره کولو وعده یی داسی وکړه چی که په یوکال کی مودا پوره نه کړه نودیته به طلاق وی اوددی دوه کاله تیرسوه تراوسه پوری دولی دزید دطرفه دشرطونو ایفاء نه ده سوی اواوس هنده بالغه ده اودخپل خاوند کره په تللو ناراضګی ښکاره کوی، نوپه داسی صورت کی هندی ته په وجه دنه ایفاء دشرائطو طلاقونه وسوه اوکه نه؟ اوپه وخت دبلوغ دناراضګی ښکاره کولو باندی نکاح فسخ سوه اوکه نه؟

جواب: قال فی الدرالمختار لایقع طلاق المولی علی امرأة عبده لحدیث ابن ماجه الطلاق لمن اخذ بالساق الخ والمجنون الخ والصبی ولو مراهقا الخ (۱). وفی الشامی قال ای الرملی وقد افتیت بعدم وقوعه فیما اذا زوجه ابوه امراة وعلق علیه متی تزوج اوتسری علیه فکذا فکبر فتزوج عالمًا بالتعلیق اولا الخ (۲). ددی عبارت څخه معلومه سوه چی دولی په یوامر باندی طلاق معلق کول موجب دوقوع دطلاقو نه دی که څه هم شرط موجود سی نوددی وجه څخه به په مسئوله صورت کی طلاق واقع نه وی، اوپه موجوده صورت کی ښځی ته دبلوغ څخه وروسته دنکاح دفسخ اختیار نسته.

<u>چی په کم شي یي تعلیق کړیدي دهغه څخه بغیر به طلاق نه وي اوخاوند به دخپل قول څخه رجوع نه سي کولي</u>: **سوال**: (۷۰۳) زید خپلی ښځی ته وویل چی که ته زما بهات (دایو خاص قسم خواړه دي چی په هندوستان کی پخیږي) دخپل بهات سره پوخ کړی نوتاته طلاق که دزید ښځه دزید دپاره څه بل خوراك ډوډی وغیره دخپل ډوډی سره پخه کړی نوطلاق به واقع وی اوکه نه؟ اوزید ددی قول څخه رجوع کولی سی اوکه نه؟

جواب: په دی صورت کی به طلاق نه وی واقع ځکه چی طلاق خوخاص په بهات پخولو معلق دی (۳)، اوزید دخپل قول څخه رجوع نه سی کولی.

<u>دنابالغی سره یي په دي نکاح وکړه چي زه یواځي یم که بل څوک ورسره پیدا سو نوطلاق چي بله ښځه وه نو هغه طلاقه سوه</u>: **سوال**: (۷۰۴) زید دهندی نابالغی سره په دی شرط نکاح وکړه چی زه یواځی یم اوزما نور څوك نسته که زما سره نور څوك ثابت سوه نو نکاح دی باطله وګڼل سی دعقد دکیدو څخه وروسته که دچا وجود هم ثابت سو نوهم دا

---

(۱) الدرالمختار علی هامش ردالمحتار کتاب الطلاق ج۲ ص۵۸۵. ط. س. ج۳ ص۲۴۲. ظفیر

(۲) ردالمحتار کتاب الطلاق تحت قوله والصبی ج۲ ص۵۸۲. ط. س. ج۳ ص۲۴۳. ظفیر

(۳) ففی البحر انت طالق بدخول الدار وبحیضتك لم تطلق حتی تدخل او تحیض (ردالمحتار باب التعلیق ج۲ ص ۲۸۷. ط. س. ج۳ ص۳۵۲) وفی ان حضت لایقع برؤیة الدم لاحتمال الاستحاضة فان استمر ثلاثا وقع (ایضا ج۲ ص۲۹۵. ط. س. ج۳ ص۳۲۰). ظفیر

فیصله دطلاقو ده ددی شرط خخه وروسته وارثانو دهندی دزید سره دهندی نکاح وکړه دنکاح خخه وروسته په تحقیق سره معلومه سوه چی دزید لور اوښځه سته اودهندی وارثانو هنده لا رخصت کړی نه وه، ددی خخه علاوه چی کله هنده بالغه سوه نودی سمدستی خپله نکاح فسخ کړه، آیا دانکاح صحیح ده، دزید دقول مطابق پر هندی طلاق واقع سو اوکه نه؟ اودهندی په فسخ کولو نکاح فسخ سوه اوکه نه؟ هنده په رخصت کیدلو راضی نه ده آیا په جبر یی رخصت کولی سی؟

جواب: نکاح سوی وه خو موافق دشرط پرهندی طلاق واقع سو (۱)، باقی دخیار بلوغ په وجه چی کم دنکاح دفسخ کولو شرطونه دی نوهغه په دی زمانه کی په وجه دقاضی نه کیدو نه سی متحقق کیدی اوچی کم ځای شرعی قاضی وی نوهلته دامسئله جاری کیدی سی خو ددی ضرورت نسته، او درخصت کولو متعلق جواب دادی چی په غیر مدخوله باندی طلاق بائن واقع کیږی نوپه دی کی رجوع اورخصت کول صحیح نه دی.

دنکاح خخه مخکی اقرار نامه دطلاقو دپاره معتبرنه ده: **سوال**: (۷۰۵) که یوسړی دنکاح خخه مخکی دخپلی ښځی ولی ته یو کاغذ داقرار نامی ولیکی چی که زه بی درضاء دخپلی ښځی ددی ځای خخه بل ځای ته ولاړ سم اوهلته په ماباندی یوه میاشت تیره سی یا په یوه میاشت کی دننه دنان اودنفقی دپاره را ونه رسیږم نودا اقرار نامه دی طلاقنامه وګنل سی، نوکه داسړی دنکاح کولو خخه وروسته بی درضاء دښځی خخه بل وطن ته ولاړ سی اودیوی میاشتی خخه زیاته موده تیره سی اوپه مذکوره موده کی خرڅ وغیره دده ښځی ته را ونه رسیږی نوموافق دتحریر داقرار نامي طلاق به وسی اوکه نه؟ اوکه دا ښځه دده په کور کی اوسیدل نه غواړی نوبیا دطلاق داخیستو ضرورت سته اوکه نه؟
۲\. ښځه مهر وصولولی سی اوکه نه؟

جواب: ۱. دنکاح خخه مخکی چی کمه اقرار نامه خاوند لیکلی ده نوهغه معتبره نه ده او طلاق به واقع نه وی (۲) نوکه ښځه دده خخه جلا کیدل غواړی نوطلاق یاخلع ضروری ده.
۲. که خاوندطلاق ورکړی اوښځه مدخوله وی نوټول مهر به دخاوند خخه اخیستل کیږی بغیر دطلاق اودجدایی خخه مهر موجل نه سی وصولولی (۱). فقط

---

(۱) فاذا اضافه الی الشرط وقع عقیب الشرط اتفاقا (عالمگیری کشوری فصل ثالث فی تعلیق الطلاق ج۲ ص ۴۴۰. ط. س. ج۱ ص ۴۲۰) . ظفیر

(۲) ولایصح اضافة الطلاق الا ان یکون الحالف مالکا او یضیفه الی ملك، والاضافة الی سبب الملك کالتزوج کالاضافة الی الملك فان قال لاجنبیة ان دخلت الدار فانت طالق ثم ینکحها فدخلت الدار لم تطلق (عالمگیری کشوری فصل ثالث فی تعلیق الطلاق ج۲ ص۴۴۰). ظفیر

په تعلیق کی دشرط دموجودیدو په صورت کی طلاق بائن واقع کیږی اوکه نه؟ سوال:
(۷۰۲) په معلق طلاقو کی دشرط په پوره کیدو سره به طلاق بائن واقع کیږی اوکه نه؟
جواب: که صریح طلاق یی معلق کړی وی نو دشرط دوجود څخه وروسته طلاق رجعی به واقع کیږی اوکه بائن یی معلق کړی وی نوبائن به واقع وی حاصل داچی څنګه طلاق یی معلق کړی وی په وخت دتحقق دشرط به هم هغه طلاق واقع وی (۲). فقط

دنکاح په وخت یی چی کم شرط کړی دی ددی څخه په خلاف ورزی کولو سره به طلاق کیږی: **سوال**: (۷۰۷) یوسړی دنکاح کولو په وخت ښځی ته دا ولیکل چی زه که ستاسره په مثل دښځی اودخاوند معاشرت ونه کړم یادیوی میاشتی پوری نان اونفقه درنه کړم نوته به دری طلاقه بائن واخلی اوبله نکاح کولی سی اوس خاوند دیوی میاشتی څخه زیاته نفقه نه ده ورکړی نوشرعًا څه حکم دی؟
جواب: قال فی الدرالمختار فی باب التعلیق شرطه الملك الخ او الاضافة الیه (۳) وفیه ایضا وتنحل الیمین بعد وجود الشرط مطلقا لکن ان وجد فی الملك طلقت وعتق والا لا الخ (۴). نوکه دا اقرار اوتعلیق دخاوند یې وروسته دنکاح څخه کړی وی یایی داویلی وی چی که ستا سره دنکاح څخه وروسته داسی وکړم الخ نو وروسته دوجود دشرط څخه به پرښځی دری طلاقه مغلظ واقع سی اوکه دنکاح څخه یی مخکی دا اقرار اوتعلیق کړی وی اواضافت الی النکاح هم نه وی نو داتعلیق بیا خطا دی کمامر عن الدرالمختار (۵).

عهد نامه یی ولیکله، که داسی وی نو زما دطرفه څخه به طلاق وی نوڅه حکم دی؟ سوال:
(۷۰۸) یوسړی په عهد نامه کی په تحریر اوپه تقریر اقرار وکی چی زه به ستا داجازی څخه بغیر دهیڅ چا سره هم نکاح نه کوم که ډیر ضرورت راپیښ سو نوټول مهر به تاته درکړم اوستا څخه به رجسټری اجازت نامه واخلم اونکاح به وکړم، بغیر ددی څخه چی

(۱) ویتاکد عند وطؤ اوخلوة صحت من الزوج اوموت احدهما الخ (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ط. س. ج۳ ص ۱۰، ردالمحتار باب المهر ج۲ ص ۴۵۴. ط. س. ج۱ ص ۴۲۰). ظفیر
(۲) واذا اضافه الی شرط وقع عقیب الشرط مثل ان یقول لامراته ان دخلت الدار فانت طالق (هدایه باب الایمان فی الطلاق ج۲ ص۳۷۴) الطلاق علی ضربین صریح وکنایة فالصریح قوله انت طالق ومطلقة وطلقتك فهذا یقع به الطلاق الرجعی الخ اذا وصف الطلاق بضرب من الزیادة والشدة کان بائنا مثل ان یقول انت طالق بائن (هدایه باب ایقاع الطلاق ج۲ ص۳۳۸ – ۳۳۹). ظفیر
(۳) الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب التعلیق ج۲ ص۲۸۰. ط. س. ج۳ ص۳۵۵. ظفیر
(۴) ایضا ج۲ ص۲۹۰. ظفیر
(۵) فلغا قوله لاجنبیة ان زرت زیدا فانت طالق فنکحها فزارت الخ (ایضا ج۲ ص۲۸۱. ط. س. ج۳ ص ۳۵۵). ظ

چي کم ځای هم نکاح وکړم نوهغه به هم دغه وخت پر همدغه زنانه وو صفا دری طلاقه وی. تعلیق دطلاقو په صیغه داستقبال دی، نوځو کاله وروسته په وجه دضرورت خاوند دخپلی ښځی څخه مهر معاف کی، اوددی څخه یی اجازه واخیسته اودبلی ښځی سره یی نکاح وکړه خو اجازت نامه یی رجسټری نه کړه، نوشرعًا په وجه دعدم ایفاء دشرط دده پردی ښځی دری طلاقه واقع سوه اوکه نه؟ بعضی وایي چی په وجه دصیغه داستقبال طلاق نه کیږی، اوبعض وایي چی طلاق واقع سو، نوکم یو فریق پر حق دی؟

جواب: په دی صورت کی دوهم فریق پرحق دی چی صیغه داستقبال په تعالیقو کی محمول پروعده نه وی بلکه دوجود دشرط څخه وروسته وقوع دجزاء پرمرتب وی: کما یظهر من الطحطاوی فی شرح قوله فی نحو طلبیة واسمیة الخ قوله: وبلن نحو وما یفعلوا من خیر فلن یکفروه قوله: وبالتنفیس نحو ومن یرتد منکم عن دینه فسوف یأت الله بقوم، ومثال ما یناسب المقام علی الترتیب ان دخلت الدار فاطلقي او فانت طالق او فعسٰی ان تطلقي او فما انت لي بزوجة نادیا الطلاق او فقد طلقتك او فلن تکوني معي علی ذمتي نادیاً او فسوف اطلقك والظاهر انه في عسی وسوف لا تطلق ویحرر الخ طحطاوی باب التعلیق ([1])، نواستثناء دعسی اودسوف دلیل دی چی که په جزاء کی لن استقبال راسی نوجزاء به مرتب وی کما مثل به او فلن تکونی معی علی ذمتی ناویا، او ترجمه ددی ښکاره ده چی داده چی که ته کورته داخله سوی نو ته به هیڅکله زما سره نه یی اوزما پرذمه به نه یی، خوپه دی حال کي چی نیت دطلاقو یی وی چی داکنایه ده اوپه کنایه کی نیت شرط دی اودا رکم په طحطاوی باب تفویض الطلاق کی په شرح ددی قول کی دی: او انا اطلق نفسی لم یقع لانه وعد قوله لانه وعد وغیر لازم الخ وفی البزازیة لوقال انا احج لایلزمه شيء بخلاف ما لو قال ان شفی الله مرضی فانا احج کان نذرًا لان المواعید باکتساب التعالیق یصیر لازمة طحطاوی باب تفویض الطلاق ([2]). فقط

<u>وی ویل چی که فلانی می قتل نه کی نو زما ښځه طلاقه نو چی کله شرط موجود سی نو طلاق به واقع سی</u>: **سوال**: (۷۰۹) زید په مینځ دخبرو کی وویل چی که ما عمر قتل نه کی نوزما ښځه په ما باندی په دری شرطونو باندی طلاقه، اوداهم معلومه نه ده چی دادری شرطونه چی ده ویلی دده نیت دڅه وو، اوس دی دعمر پرقتل قادر نه سو، نوداسی طلاق صحیح کیدی سی اوکه نه؟ که صحیح وی نوپه لاندینی صورت کی به څه حکم وی چی منکوحه دزید خوطلاقه سوه اوس ددی نکاح ددوهم خاوند سره لانه ده سوی چی داښځه

([1]) طحطاوی علی الدرمختار باب التعلیق ج۲ ص ۱۵۳ وص۱۵۴. ظفیر

([2]) طحطاوی علی الدرالمختار باب التفویض الطلاق ج۲ ص۱۴۱. ظفیر

مرتده سوه وروسته په دوهم وار هدایت کیدو سره ددی نکاح داول خاوند سره بی له حلالی څخه کیدی او که نه؟

جواب: په داسی یمین مطلقه کی په آخر دژوند کی حانث کیږی ځکه ممکنه ده چی مخکی ترمرګ یی وکړی، قال فی الدرالمختار حلف لیاتینه الخ فلو لم یاته حتٰی مات احدهما حنث فی اخر حیاته وکذا کل یمین مطلقة، قال فی الشامی قوله وکذا کل یمین مطلقة الخ ای لاخصوصیة للاتیان بل کل فعل حلف ان یفعله فی المستقبل واطلقه ولم یقیده بوقت لم یحنث حتی یقع الیأس عن البر مثل لیضربن زیداالخ (۱) اوددوهم صورت جواب دادی چی بغیر دحلالی څخه په دی صورت کی داول خاوند سره نکاح صحیح نه ده، کمافی الشامی ان الردة واللعان والسبی لم تبطل حکم الظهار واللعان کما لم تبطل حکم الطلاق الخ (۲). فقط

دنکاح څخه یی مخکی وویل چی که داسی وسوه نوزما ښځه دی طلاقه وګڼل سی، نوڅه حکم دی؟ سوال: (۷۱۰) یوسړی دنکاح څخه مخکی شرط کړی وو چی که زه خپله ښځه دمور اودپلار کره دتللو څخه منع کړم اویا نان اونفقه ورنه کړم نوطلاقه دی وګڼل سی اوس دانجلی پلار دعوٰی کړیده چی دانجلی نکاح بل ځای وکړی آیا داشرط به قبل النکاح شرعًا معتبر وی او که نه؟

جواب: قبل النکاح بی له اضافت الی النکاح څخه تعلیق صحیح نه دی نوددی وجه څخه دده ښځه په دی صورت کی دوجود دشرط څخه وروسته به طلاقه نه وی، کما فی الدر المختار باب التعلیق شرطه الملك الخ او الاضافة الیه کان نکحت امراة وان نکحتك فانت طالق الخ فلغا قوله لاجنبیة ان زرت زیداً فانت طالق فنکحها فزارت الخ (۳).

ښځی ته یی وویل چی که ستاپه ژوند کی واده وکړم نوداسی داسی، نوکه خاوند دیته طلاق ورکړی نوڅه حکم دی؟ سوال: (۷۱۱) زید دښځی سره داشرط وکی چی ستا په ژوند کی به بله نکاح نه کوم، اوکه یې وکړم نو تاته به پنځه سوه روپی مهر اوشپږ روپی ماهواره درکوم، اوستا په رضاء به یی ددی سره کوم کنې پر دی به یوطلاق دوه طلاقه دری طلاقه وی اوس زید بی له اداء کولو دلوړ شرط څخه بلکی مخکنی ښځی ته یی طلاق ورکی او دبلی ښځی سره یی نکاح وکړه نودابه طلاقه وی او که نه؟ که وی نوکم طلاق؟ اونن صبا چی کم شرطونه په عهد نامه کی لیکل کیږی په دی کی کم شرطونه معتبر دی؟

(۱) ردالمحتار کتاب الایمان باب الیمین فی الدخول والخروج ج۳ ص ۱۱۱. ط. س. ج۳ ص۷۵۷. ظفیر
(۲) ردالمحتار. ط. س. ج۳ ص۷۵۷. ظفیر
(۳) الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب التعلیق ج۲ ص۶۸۰. ط. س. ج۳ ص ۳۴۴. ظفیر

جواب: په شامی ص۱۳۶ جلد ثالث باب الایمان کی دی: وعلی هذا لو قال لامراته امراة اتزوجها بغیر اذنك فطالق فطلق امراته طلاقا بائنا اوثلاثا ثم تزوج بغیر اذنها طلقت لانه لم تتقید یمینه ببقاء النکاح الخ (۱)، نوموافق ددی جزئیه مصرحه په مسئوله صورت کی پرزوجه ثانیه به طلاق واقع وی اوشرائط دعهد نامه به هغه معتبر وی چی کم دنکاح څخه وروسته وی اوچی کم دنکاح څخه مخکی یا بی داضافت الی النکاح وی نودابه معتبر نه وی.

دا پکښی لیکل جائز دی اوکه نه که دمخکی ښځی په وجود کی واده وکړم نودیته طلاق:

سوال: (۷۱۲) په عهد نامه کی چی خومره شرطونه لیکل کیږی هغه ټول معتبر دی اوکه نه مثلا داشرط لګول چی ستا په موجودګی کی که بله نکاح وکړم نوهغه طلاقه، نو په دی صورت کی طلاق کیږی اوکه نه؟

جواب: عهد نامه چی دعقد څخه مخکی لیکل کیږی اوپه عدم ایفاء دبعض شرط باندی طلاق معلق کړی نودا به معتبر نه وی اوچی کم یی داسی ولیکی چی ستا په وجود اوپه منکوحه اوښځه کیدو کی دوهمه نکاح وکړم نودا مطلقه ده، داصحیح (۲) ده. فقط

دمهر دمعافی په شرط یی طلاق ورکی اوس دطلاقو څخه وروسته ښځه مهر نه معاف کوی، څه حکم دی؟ **سوال**: (۷۱۳) هنده په وساطت دخپلو وارثانو دخپل خاوند څخه شرطیه طلاق وغوښتی چی خاوند دی ماته طلاق راکړی اوزه به مهر معاف کړم نو دزید دجانبه طلاقنامه اودهندی دجانبه هغه دست برداری دمعافی دمهر کاتب ولیکل هندی پر استامپ ددست برداری دمهر ګوته ولګوله، دارکم زید پرطلاقنامه دستخط وکی، وروسته دتکمیل څخه طلاقنامه وارثانو دهندی ته اودست برداری زید ته ورکول سوه وروسته دحاصلیدلو دتحریر دطلاقنامې څخه هنده دمعافی دمهر څخه انکار وکی اوبی دپوره کیدو دعدی څخه یی نکاح ثانی وکړه اودمهر دعوٰی کوی، نوپه دی صورت کی نکاح ثانی شرعًا حلاله ده اوکه حرامه اوچی طلاق مشروط په شرط دمعافی دمهر معلق وو، واقع سو اوکه نه؟

جواب: (دبل ځای څخه) چی کله دمهر په معافی طلاق معلق وو اودمهر معافی ترطلاقو معلق ده نونه طلاق بغیر دمهر دمعافی څخه کیدی سی اونه معافی دمهر بغیر دطلاقو کیدی سی، که ښځه مهر نه معاف کوی نو دعوٰی دوقوع دطلاقو به غلطه وی اوپه داسی

---

(۱) ردالمحتار باب الایمان ج۲ ص ۷۸۰. ط. س. ج۳ ص ۳۴۴. ظفیر

(۲) شرطه الملك الخ او الاضافة الیه الخ کان نکحت امراة اوان نکحت فانت طالق (الدرالمختار علی هامش رد المحتار باب التعلیق ج۲ ص ۶۸۰ – ۶۸۱. ط. س. ج۳ ص۳۴۴). ظفیر

صورت کی به دا داول خاوند منکوحه وی، اوپه ورځو دعدی کی نکاح حرامه ده اوکه سره دعلمه ځوك داجائز ښایی نو دی فاسق دی اوچی ځوك ددی مرتکب دی نوکه توبه نه کاږی نو ددوی سره اسلامی تعلقات پریښوول زجراً جائز دی. فقط

جواب: (دحضرت مفتی عزیز الرحمٰن صاحب رحمه الله) چی کله خاوند مضمون دطلاقنامی واوریدی یابی ووایه اوپه دی یی دستخط وکی اوښځی دمهر په معافی دستخط او ګوته ولګوله نومعامله دخلع پوره سوه اوس نه خاوند دطلاقو څخه رجوع کولی سی اونه ښځه دمعافی دمهر څخه انکار کولی سی، نوددی وجه څخه په مسئوله صورت کی به بائن طلاق واقع وی اومهر ساقط سو، اوپه عده کی چی کمه نکاح وسوه نوهغه باطله ده، په درمختار کی دی چی، وشرطه الخ وصفته ماذکره بقوله هو یمین فی جانبه لانه تعلیق الطلاق بقبول الحال فلایصح رجوعه عنه قبل قبولها الخ وفی جانبها معاوضة بمال فصح رجوعها قبل قبوله الخ (١)، ددی څخه معلومه سوه چی دقبول دخاوند څخه وروسته ښځه دلزوم دمال څخه رجوع اوانکار نه سی کولی لکه څنګه چی دستخط دخاوند پرطلاق نامه تسلیم دمافیها دی نوداسی دښځی ګوته لګول تسلیم دمافیها دی. په شامی کی دی چی: ولو استکتب من آخر کتاباً بطلاقها وقرأه علی الزوج فاخذه الزوج وختمه الخ وقع ان اقر الزوج انه کتابه الخ (٢).

<u>دعهد نامې دخلاف ورزی په صورت کی څه حکم دی؟</u> سوال: (۷۱۴) یوسړی په عهدنامه دښځی خپله کی ولیکل چی که عهد نامه په پنځلس ورځو کی رجسټری ورنه کړم نو ښځه به په دری طلاقوطلاقه وی اوهمدارنګه تربقاء دنکاح پوری‌که بی اجازې دموصوفه ښځی څخه بله ښځه په نکاح کی راولم نو مخکنۍ ښځه به طلاقه وی په درو طلاقو، داسی نور شرطونه اوس مذکوره سړی خوعهد نامه په پنځلسو ورځوکی رجسټری کړی نه ده اونه یی سپارلی ده اودموصوفه ښځی داجازت څخه بغیر یی بله ښځه هم په نکاح کړیده نومخکنۍ ښځه په دری طلاقو طلاقه سوه اوکه نه؟ دلته دعالمانو په مینځ کی اختلاف دی بعضی وایي چی په جزاء دتعلیقاتو کی صیغه دمستقبل استعمال سویده او په صیغه داستقبال طلاق نه کیږی، اوبعض وایي چی په دی صورت کی پرمخکی ښځه طلاق واقع سو ځکه چی صیغه دمستقبل که څه هم په تنجیز کی طلاق نه ګرځی خو په صورت دتعلیق کی مستقبل هم طلاق ګرځی، نوپه دی صورت کی څه حکم دی؟

جواب: قال فی الطحطاوی ان دخلت الدار فاطلقی او فانت طالق او فعسٰی ان تطلقی الخ

---

(١) الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب الخلع ج۲ ص ۷۲۸ - ۷۲۹، ط. س. ج۳ ص ۴۴۱ - ۴۴۲ . ظفیر

(٢) ردالمحتار کتاب الطلاق ج۲ ص ۵۸۹. ط. س. ج۳ ص ۲۴۲. ظفیر

اوفلن تکونی معی علی ذمتی ناویا اوسوف اطلقك والظاهر انه فی عسی وسوف لاتطلق الخ ([1])، ج۲ ص۵۴، ددی عبارت څخه واضحه سوه چی دسوف اودعسٰی څخه ماسوا په ټولو صورتونو کی طلاق واقع کیږی اوښکاره ده چی: فلن تکونی معی الخ، داستقبال دپاره دی اوداپه تعلیق کی طلاق دی که په نیت دطلاقو دالفظ ووایي چی داکنایه ده او په کنایه کی نیت شرط دی حاصل داچی په مذکوره صورت کی وروسته دوجود دشرط څخه دری طلاقه واقع کیږی. فقط

ددی ترژونده پوری که می بل واده وکی نوپر دی طلاق مغلظ، نواوس واده کولی سی اوکه نه؟ سوال: (۷۱۵\۱) زید ولیکل چی دهندی ترژونده پوری چی ښځه یې ده که نکاح وکړم نو پرنوی ښځه طلاق مغلظ په وخت دلیکلو ددی شرط کی زید ته داعلم نه وو چی دابه څوك وی، نوپه ژوند دخپلی ښځی کی زید دوهم عقد کولی سی اوکه نه؟

دده دپاره ددریمی ښځی دنکاح کولو څه حکم دی؟ سوال: (۷۱۵\۲) په پورتنی صورت کی که زید دریمه نکاح وکړه اودیته طلاق مغلظ وسو نوزید ددریمی ښځی سره نکاح ولی نه سی کولی ددی وجه څخه چی زید شرط کړی وو چی ددی په ژوند کی به دوهمه نکاح نه کوم نه داچی دریمه اوڅلورمه به نه کوم؟

جواب: ۲\۱ : په درمختار کی دی چی، وفیها کلها تنحل ای تبطل الیمین ببطلان التعلیق اذا وجد الشرط مرة الا فی کلما فانه تنحل بعد الثلث وفی الشامی وای کذالك حتی لو قال ای امراة اتزوجها فهی طالق لایقع الا علی امرأة واحدة ([2]) کما فی المحیط وغیره، ددی عبارت څخه واضحه سوه چی که زید په ژوند دهنده کی دوهمه نکاح وکړه نودده پر دوهمه ښځه طلاق مغلظ واقع سو ددی څخه وروسته که دبلی سره نکاح وکړی نو پر هغې به طلاق نه وی.

که دفلانی داجازی څخه بغیر دزبیده ښځی دفلانی سره نکاح وکړم نوپه دی دری طلاقه زبیده ته چی کله مخکنی خاوند طلاق ورکړی نونکاح کولی سی اوکه نه؟ سوال: (۷۱۲) که زید ولیکل یایی وویل چی که بغیر داجازی دبکر دزبیدی سره نکاح وکړم نوپر زبیده به طلاق مغلظ وی دزید دلیکلو په وخت زبیده دبل په نکاح کی وه وروسته دجلا کیدو ددی بل سړی څخه دزبیده سره زید نکاح کولی سی اوکه نه؟ ځکه چی زید دالیکلی دی چی پر زبیده دری طلاقه مغلظ دی دزید په طلاق اچولو سره دبل پر ښځه یعنی پر زبیده طلاق نه کیږی بیا زید دزبیدی سره ولی نکاح نه سی کولی؟

([1]) طحطاوی علی الدرالمختار باب التعلیق ج۲ ص ۱۵۴. ظفیر

([2]) وګوری ردالمحتار مع هامشه باب التعلیق ج۲ ص ۶۸۸. ط. س. ج۳ ص ۳۵۵. ظفیر

جواب: په دی صورت کی چی اضافت الی النکاح موجود دی، نو ددی وجه څخه که بی اجازته دبکر ترزبیدی وروسته داول خاوند دجدایی څخه نکاح کوی نوپر زبیده به طلاق مغلظ واقع وی، کمافی الدرالمختار شرطه الملك اوالاضافة الیه الخ کان نکحت امراة الخ (۱). فقط

دفلانی داجازی بغیر که دفلانی سره نکاح وکړم نوپرما طلاق، نونکاح کولی سی اوکه نه؟

سوال: (۷۱۷) زید وویل اووی لیکل چی بی داجازی دعمر څخه که دزبیدی سره نکاح وکړم نوپرما طلاق دی یایی صرف دا الفاظ وویل چی بی داجازت دعمرڅخه که دزبیدی سره نکاح وکړم نوطلاق دی، په اول شکل کی زید پرخپل ځان طلاق اچولی دی اوپه دوهم شکل کی صرف لفظ دطلاقو یی استعمال کړیدی، نواوس دزبیدی سره نکاح کولی سی اوکه نه؟

جواب: په دی لفظ سره چی پرماطلاق، طلاق به نه وی واقع، اودوهم لفظ چی که دزبیدی سره نکاح وکړم نوطلاق، نوزبیده به وروسته دنکاح څخه طلاقه وی، کما فی الشامی: انه لا یلزم الاضافة صریحة بل تکفي القرینة والعادة وعبارته کذا ویؤیده ما في البحر لو قال امرأة طالق او قال طلقت امرأة ثلاثا وقال لم اعن امرأتي یصدق اهـ ویفهم منه انه لو لم یقل ذلک تطلق امرأته لان العادة ان من له امرأة انما یحلف بطلاقها لا بطلاق غیرها (۲). فقط

دانشاء الله په متصل ویلو سره طلاق نه واقع کیږي: **سوال**: (۷۱۸) زید دالفاظو ددریم او دڅلورم سوال سره لفظ دانشاء الله هم ویلی دی نوپه دی صورت کی زید دزبیدی سره نکاح کولی سی اوکه نه؟

جواب: دان شاء الله په ویلو سره حکم دطلاقو ساقطیږی، قال لها انت طالق ان شاء الله تعالی متصلا الخ لایقع (۳).

که ته دمامی کره ولاړې نوطلاق ددې څخه وروسته په څه طریقه سره تللی سی اوکه نه؟

سوال: (۷۱۹) زید خپلی ښځی ته وویل چی که ته دخپلی مامی کره ولاړې نوتاته طلاق، نوپه داسی حالت کی داښځه دخاوند په اجازت دخپل مامی کره تللی سی اوکه نه؟ ددی څخه علاوه بل یوصورت چی بی دوقوع دطلاقو داښځه دخپلی مامی کره ولاړه سی سته اوکه نه اوکه په هیڅ صورت سره هم تلل یی ممکن نه دی؟

---

(۱) الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب التعلیق ص ۲۸۰. ط. س. ج۳ ص ۳۴۴. ظفیر

(۲) ردالمحتار کتاب الطلاق باب الصریح ج۲ ص ۵۹۰ – ۵۹۱، ط. س. ج۳ ص ۲۴۸. ظفیر

(۳) الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب التعلیق مطلب مسائل الاستثناء والمشیة ج۲ ص ۷۰۰. ط. س. ج۳ ص ۳۲۲. ظفیر

جواب: په دی صورت کی تعلیق مطلق دی که داښځه دخپلی مامی کره ولاړه که څه هم په اجازه وی نوطلاق به واقع خوپه یووار واقع کیدو باندی بیا په دری واره تللو سره طلاق نه واقع کیږی که خاوند لفظ دطلاقو ویلی وو اودری طلاقه یی نه وه ویلی نودیوه طلاق څخه وروسته دی په عده کی رجوع وکړی. فقط

ده ویل چی که دفلانی سره ووینم نوزما نکاح فسخ که ورسره ووینی نوطلاق به وی اوکه نه؟

سوال: (۷۲۰) قد علق الرجل فسخ نکاحه علی ملاقات احد فقال ان لقیت بفلان فنکاحی فاسخ فیا ایها الهداة قد طلقت زوجتها اذا وجد اللقاء المذکور ام لا؟

جواب: ان نوی الطلاق بقوله فنکاحی فاسخ یقع الطلاق البائن بعد وجود الشرط ای اللقاء کما هو حکم التعلیق قال فی الدرالمختار، اذهبی الی جهنم یقع ان نوی خلاصه وکذا اذهبی عنی وافلحی وفسخت النکاح وانت علی کالمیة [1] الخ. فقط

وی ویل که ښځی ته تکلیف ورکړم نو داطلاقه اوجامی یی ورنه کړی نوڅه حکم دی؟ **سوال**:

(۷۲۱) یوسړی دنکاح څخه وروسته دا اقرار وکړی اووی ویل چی که ماخپلی ښځی ته قصداً څه تکلیف ورکی نوزما ښځه به طلاقه وی ددی څخه وروسته زید خپلی ښځی ته دا تکلیف ورکی چی دزید په عدم موجودګی کی دده مور دزید دښځی څخه دخوراك شیان واخیستل اوپه صندوق کی یی بندکړل. دی دزید څخه دجامو بدلولو دپاره جامی طلب کړی نوزید جامی ورنه کړی، اوحال دادی چی دجامو سخت ضرورت وو، آیا موافق داقرار نامی طلاق واقع سو اوکه نه؟

جواب: دزید دمور فعل به زید ته منسوب نه وی، باقی چی زید دجامو بدلولو دپاره جامی ورنکړی نوپه دی کی داتفصیل دی چی په درمختار کی دی: وتفرض لها الکسوة فی کل نصف حول مرة لتجدد الحاجة حراً وبرداً الخ ثم قال وتزاد فی الشتاء جبةً وسروالاً وما یدفع به اذی حر وبرد ولحافا وفراشا وحدها الخ قوله الی ان طلبته [2]، اوپه شامی کی دی: قوله: في کل نصف حول مرة إلا إذا تزوج وبنی بها ولم یبعث لها کسوة فتطالبه بها قبل نصف الحول والکسوة کالنفقة في أنه لا یشترط مضي المدة بحر عن الخلاصة وحاصله أنها تجب لها معجلة لا بعد تمام المدة واعلم أنه لا یجدد لها الکسوة ما لم یتخرق ما عندها أو یبلغ الوقت الذي یکسوها الخ [3]، نوچی په کم تفصیل سره جامی اغوستل دخاوند پرذمه لازم دی که په دی کی ده کوتاهی کړی وی نودابیشکه چی تکلیف

---

[1] الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب الکنایات ص۷۵۲. ط.س. ج۳ ص ۳۱۴. ظفیر

[2] الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب النفقة ج۲ ص ۸۹۲ – ۸۹۴. ط. س. ج۳ ص۵۸۰. ظفیر

[3] ردالمحتار باب النفقة ص ۸۹۳ – ۸۹۴. ط. س. ج۳ ص ۳۸۰. ظفیر

دی اوطلاق به واقع وی کنې نه به وی واقع. فقط

یوسړی وویل که خبری وکړم نو زما پرښځه طلاق نو په دوو ښځو کی به پرکمه طلاق واقع وی؟ سوال: (۷۲۲) یو سړی وویل که زه ستا سره کلام وکړم نو زما پرښځه دری طلاقه ددی څخه وروسته ده کلام وکی اوددی سړی دوی ښځی دی نوپه دواړو ښځو به دری طلاقه وی اوکه پریوه؟ نوپر کمی یوی به وی؟

جواب: پریوې ښځی به دری طلاقه اواختیار دتعین به خاوندته وی، ولوقال امرأتی طالق وله امراتان اوثلث تطلق واحدة منهن وله خیار التعین [1] وفی الشامی لافرق فی ذالك بین المعلق والمنجز الخ. فقط

دمعلق طلاقو په دی صورت کی طلاق واقع نه سو: سوال: (۷۲۳) زید خپلی ښځی ته څو شرطونه ولیکل چی په هغه کی یوشرط دادی چی کله زما خسر یابل څوك رشته دار زما دښحی دبیولو دپاره راسی نوپه وخت درخصتی کی به زه څه جګړه نه کوم اوکه یې وکړم نوهمدا لیکل دی طلاق بائن وګڼل سی چی کله دزیدخسر دخپلی لور دبیولو دپاره راغی نوزید مزاحمت اودعوه وکړه، دوی دری ورځی وروسته یی رخصت کړه نوپه دی صورت کی طلاق واقع سو اوکه نه؟

جواب: په دی صورت کی طلاق واقع نه سو. فقط

دا یی وویل چی که ته فلانی کورته داخله سوی نوپه تادری طلاقه، بیاده لاندینی حیله وکړه نوڅه حکم دی؟ سوال: (۷۲۳) یوسړی خپلی ښځی ته وویل چی که ته فلانی کورته داخله سوی نوپه تادری طلاقه دی بیادی سړی داحیله وکړه چی دی ښځی ته یی طلاق بائن ورکړی په عده کی یی دننه نکاح وکړه اودنکاح څخه یی مخکی دغه کورته داخله کړه نوپه دی صورت کی داښځه په مغلظه ثلاثه طلاقو باندی طلاقه سوه اوکه نه؟

جواب: په عده کی دننه دی کور ته په ننوتلو باندی به داښځه په دری طلاقو باندی طلاقه وی [2]، اودمطلقه ثلاثه نکاح بغیر دحلالی څخه جائز نه ده. فقط

چی نان او نفقه ورنه کړم نو دنکاح څخه وتل: سوال: (۷۲۵) یوسړی وویل چی که زه خپلی ښځی ته نان اونفقه ورنه کړم نودا به زما دنکاح څخه وتلی وی اوس اووه میاشتی تیری سوی چی یوه دانه یی هم نه ده ورکړی، نودده ښځه طلاقه سوه اوکه نه؟ اوددی ښځی بله نکاح جائز ده اوکه نه؟

---

(1) الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب طلاق غیر المدخول بها ص۲۲۹. ط. س. ج۳ ص۲۹۰. ظفیر

(2) وتنحل الیمین اذا وجد شرط مرة (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب التعلیق ج۲ ص۲۸۸. ط. س. ج۳ ص۳۵۵). ظفیر

جواب: په دی صورت کی پردی ښځه یو طلاق بائن واقع سو ([1]).

په مسئوله صورت کی طلاق واقع نه سو: **سوال**: (۷۲۶) یوسړی څریدونکی غوایي دبل دڅریدوپه ځای کی وخوړی دغه وخت څو کسان موجودوه، وروسته په وخت دمخاصمت اودمواخذې په وجه دبیری دتاوان او دمعاوضی مذکوره سړی وویل چی دا زما حیوان وو، که دازما حیوان نه وو نوپه دری شرطونو زما ښځه موجوده دی طلاقه سی، چی دری شرطونه پرځای ددرو طلاقو زموږ په ځای اوعلاقه کی مستعمل دی، اوس نو پوښتنه دا ده چی طلاق واقع سو اوکه نه؟ اوکم طلاق واقع سو؟

جواب: په درمختار کی دی، فان غصب وغیر المغصوب فزال اعظم منافعه الی ان قال ضمنه وملکه بلا حل انتفاع قبل اداء ضمانه ای رضا مالکه باداء کذبح شاة ای شاة غیره الخ ([2])، ددی عبارت څخه واضحه سوه چی په مسئوله صورت کی دده ښځه طلاقه نه سوه ځکه چی په ذبح کولو غاصب مالك سو که څه هم بی داداء کولو دضمان څخه نفع اخیستل ورته حرام دی. فقط

وی لیکل چی که ښځه مو ژر را ونه لیږله نودا زما طلاقنامه ده، نوپه دی صورت کی یی ښځه دیوی میاشتی څخه په کمه موده کی را ولیږله نوطلاق واقع نه سو: **سوال**: (۷۲۷) یوسړی خپل اخښی (دښځی ورور) ته خط ولیکی چی په دی کی یی خسر ته ډیر رد اوبد لیکلی وه او وروسته یی داهم لیکلی وه چی وروسته مناسب ده چی دزرګونو خطونو څخه دایو خط تصور کړی اوژر مشره بیګم یعنی زما ښځه زما کور ته راروانه کړی، که په دی باندي یې هم په څه وجه راروانه نه کړی نوزما طلاقنامه ده، نودا وفرمایاست چی طلاق واقع سو اوکه نه؟ اوکه واقع سو نوکم یو؟ دخط په مضمون سره ښځه دقاضی سره دعوٰی دتفریق کولی سی اوکه نه؟

جواب: قال فی الدرالمختار الشهر وما فوقه ولو الی الموت بعید وما دونه قریب الخ ولفظ السریع کالقریب والاجل کالبعید الخ ([3]) نو خاوند په مسئوله صورت کی دښځی په باره کی دالیکلی دی چی ژر ترژره یی را ولیږی اوکه یې نه رالیږی نو دا زما دطرفه څخه طلاق دی نو چی دیوی میاشتی څخه یی په کمه موده کی مشره بیګم یعنی ښځه دکاتب را ونه لیږله نوموافق دفقهاؤ دتصریح په دی طلاق معلق واقع سو، اودعدی په تیریدلو سره داښځه بله نکاح کولی سی چی کله موافق دتحریر په دی ښځه طلاق واقع

([1]) فاذا اضافه الی الشرط وقع عقیب الشرط اتفاقا (عالمگیری کشوری ج۲ ص۴۴۰. ط. س. ج۲ ص۴۲۰). ظ

([2]) الدرالمختار علی هامش ردالمحتار کتاب الغصب ج۵ ص ۱۲۷. ط. س. ج۳ ص ۱۹۳. ظفیر

([3]) الدرالمختار علی هامش ردالمحتار الشهر وما فوقه بعید ج۳ ص ۱۸۲. ظفیر

سی نو که څه هم طلاق رجعی دی خوبیا هم وروسته دعدی څخه مطلقه ښځه دخاوند دنکاح څخه وزی نو دعدی دتیریدلو څخه وروسته ښځه دعوئ دتفریق بی فکره کولی سی اوکه دا دعوئ وکړی اوکه یې ونه کړی هم دعدی دتیریدو څخه وروسته داښځه دخاوند دنکاح څخه وزی. فقط

دمشروطو طلاقو حکم: **سوال**: (۷۲۸) زید خپلی ښځی هندی ته په دی شرط طلاق ورکی چی که بکر (دزید زوی) دخپلی مور هندی په مخامخ کي دزید توهین وکی اوهنده بکر منعه نه کړه نوهندی ته دری طلاقه خو په پوښتنی سره معلومه سوه چی دغه هنده دبکر سره موجوده نه وه، اوهندی ته هیڅ علم هم نه وو، نو په دی صورت کی طلاق واقع سو اوکه نه؟

جواب: په مسئوله صورت کی که شرط دایقاع دطلاقو نه وی موجود سوی یعنی داچی بکر دخپلی مور هندی په مخکی خپل پلار زید توهین نه وی کړی یایی کړی وی خودی بندکړی اومنع کړی وی نوطلاق واقع نه سو اوچی کله هنده په دغه وخت کی موجوده نه وه نو دطلاقو دوقوع هیڅ وجه نسته، نوپه مسئوله صورت کی هنده طلاقه نه ده. فقط

نکاح یې وکړه اودا شرط نامه یی ولیکله چی که دوهمه نکاح وکړم نوتاته دطلاقو اختیار دی نو ددی وجه څخه ددوهمی نکاح څخه وروسته به ښځی ته اختیار حاصل وی: **سوال**: (۷۲۹) یوسړی دیوی ښځی سره نکاح وکړه اوعهد نامه یی ولیکله چی که زه دوهمه نکاح وکړم یا نان اونفقه نه ورکوم نو تاته ددرو طلاقو اخیستلو اختیار دی، ددی څخه وروسته زید بله نکاح وکړه اونان اونفقه یی ورنه کړه شاهد موجود دی اوس دی ښځی عهدنامه په خپله مخه قاضی ته مخکی کړه اونکاح یی فسخ کړه اودعدی څخه وروسته یی دوهمه نکاح دعمرسره وکړه اوس دمخکنی خاوند ولی اوددوی په مینځ کی تنازع ده چی داعهد نامه دروغ ده، آیا دانکاح صحیح ده؟ یعنی دعمر سره اوپه عمر پسی لمونځ کول صحیح دی اوکه نه؟

جواب: چی کله سړی دعهد نامې شرطونه پوره نه کړل اوددی شرطونو خلاف یی وکی نو ښځی ته دطلاق داخیستو اختیار حاصل دی نو چی کله ښځی خپل ځان ته دری طلاقه ورکړل نوطلاق واقع سو اودعدی دتیریدلو څخه وروسته یعنی ددری حیضونو څخه وروسته دوهمه نکاح چی دعمر سره سویده صحیح ده اوعمر هیڅ ګنهګار نه دی او امامت دعمر بی دکراهت څخه صحیح دی. فقط

چی ډوډی اوجامه نه ورکوی نوهم داطلاق دی: **سوال**: (۷۳۰) دخاندان والا خاوند ته وویل چی ته دی ته ډوډی اوجامه به ورکوی اوکه نه یی ورکوی نودابه خپل بل واده وکړی، نو

خاوند اقرار وکی چی زه به ډوډی اوجامه ورکوم اووی ویل چی زما دا اقرار دی طلاق وګڼل سی، اوس داخاوند ددی خبر نه اخلی نو آیا داطلاقه ده اودوهمه نکاح کولی سی؟
جواب: دخاوند که دامطلب وو چی که ما ډوډی اوجامه ورنه کړه نو دا اقرار دی طلاق وګڼل سی، نوپه دی صورت کی چی کله ده ډوډی اوجامه ورنه کړه نو موافق دده داقرار دده ښځه طلاقه سوه اودعدی څخه وروسته بله نکاح کول ددی صحیح دی. فقط

یوه ته یی طلاق ورکی نوپر دوهمه ښځه یاپر مخکی ښځه دپخوانی شرط دوجه به طلاق واقع نه وي: **سوال**: (۷۳۱) که یوسړی یوی ښځی ته طلاق ورکی اووروسته یی ددی سره نکاح وکړه نودنکاح څخه وروسته به دده پخوانی طلاق پر دی وی اوکه نه؟ اوکه په یوشرط سره یی ورته طلاق ورکی اوبیا یی ددی سره نکاح وکړه اوبیا دنکاح څخه وروسته دغه شرط موجود سو نوطلاق به واقع وی اوکه نه؟
جواب: دنکاح څخه مخکی پرښځی طلاق نه واقع کیږی نه منجز اونه معلق چی دتعلیق دنکاح څخه مخکی که څه هم شرط دنکاح څخه وروسته موجود سوی وی، مثل قوله: لاجنبیة ان دخلت الدار فانت طالق ثم نکحها فدخلت الدار فلا یقع الطلاق (۱). فقط

که ستاسره وطی وکړم نو دمور اوخور سره به یی کوم په دی ویلو سره به طلاق نه وي: **سوال**: (۷۳۲) که چا خپلی ښځی ته دا وویل چی که ستا سره جماع وکړم نو دخپلی مور اوخور سره به یی کوم اوبیا ددی سره جماع وکړی نوطلاق واقع سو اوکه نه؟ اوکه دایی وویل چی ما طلاق ورکی اوحال دادی چی طلاق یی نه وو ورکړی دروغ یی ویلی وه، نو په دی صورت کی طلاق واقع سو اوکه نه؟
جواب: که چا خپلی ښځی ته داوویل چی که ستاسره جماع وکړم نودخپلی مور اوخور سره به یې کوم په دی سره طلاق واقع نه سو خو داویل ګناه ده اوبیا داسی ویل نه دی پکار، اودا چی ماطلاق ورکی، که څه هم دروغ یی ویلی دی طلاق واقع سو، لو اقر بالطلاق کاذبًا اوهازلاً وقع قضاءً لا دیانةً، شامی (۲) ج۲ ص۵۷۹. فقط

په مذکوره صورت کی څه حکم دی؟ **سوال**: (۷۳۳) ددوو طالب العلمانو په مینځ کی بحث سو دهدایة النحو دلاندینی عبارت متعلق، الجمعیة ولزومها الخ، یووایی چی، الجمعیة غلط دی، للجمعیة کیدل په کاردی که، الجمعیة غلط نه وی نوزما ښځه ته طلاق دی نو په دی صورت کی دچا پر ښځی طلاق واقع سو؟
جواب: په مسئوله صورت کی په دواړو کی دیوه پر ښځه هم طلاق واقع نه سو او یوه هم

---

(۱) الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب التعلیق ج۲ ص۲۸۱. ط. س. ج۳ ص ۳۴۵. ظفیر
(۲) ردالمحتار کتاب الطلاق ج۲ ص ۵۷۹. ط. س. ج۳ ص ۲۳۸. ظفیر

طلاقه نه سوه، دهداية النحو په تمامونسخوکی د، الجمعية، لفظ موجوددی چی دسیاق دکلام اودترکیب دنحو په لحاظ ډیر صحیح اوپر محل دی اومجرور هم کیدی سی او مرفوع هم ددی په دواړو صورتونو کی حاصل به داوی (هغه جمع چی یوائی ددوو سببونو قائم مقام ده په هغه کی یوجمعیت دی اوبل لزوم ددی دی الخ، اوکه للجمعية، وی نومعنٰی به بیاهم صحیح وی بلکی دمفاد په لحاظ به ښه مناسبه وی یعنی جمع قائم مقام ددوو سببونو ځکه ده، چی په دی کی جمعیت اولزوم دجمعیت هم دی، نوچی کله ددواړو عبارتونو حاصل په خپله خپله موقع صحیح دی نو دطلاقو دوقوع هیڅ څه وجه نسته دی دوجود دشرط څخه بغیر وقوع دطلاقو متصور نه ده [۱].

متعلقه استفتاء مکرر: جواب: په مخکی جواب کی داخبره دنظر په وړاندی وه چی کله اول قائل داسی وویل چی که دالجمعية لفظ غلط نه وی نوزما په ښځی طلاق، نوګویا دی داسی وايي چی که داغلط نه وی اوالجمعية غلط وی نوزما پرښځی طلاق یعنی چی په کم شرط يې وقوع دطلاقو معلقه کړیده ددی دوه جزء دی دالجمعية صحیح کیدل او د: للجمعية غلط کیدل نو چی کله للجمعية غلط نه دی نوشرط پوره موجود نه سو نو ددی وجه طلاق هم واقع نه سو خو دقائل مراد دانه دی بلکی صرف دلفظ دالجمعية په صحت یی طلاق معلق کړی دی نو ددی وجه څخه داشرط موجود دی نودطلاق په وقوع کی هم څه شك نسته، په هرحال الجمعية اوللجمعية دواړه پرخپل خپل ځای صحیح دی، الجمعية ته غلط ویل جهل اودقواعدو دنحوڅخه بی خبرتیا ده، نو په موجوده صورت کی که طلاق واقع وی نوصرف داول قائل پر ښځه به طلاق وی په خلاف ددوهم.

داقرار خلاف کولو په صورت کی به طلاق کیږي: سوال: (۷۳۴) زما عقد په دی اقرار وسو چی زما ښځه به دخپل مور اوپلار په کورکي اوسیږی اوموږ به ددی جامه اوخوراك برابر ورکوو څو میاشتی وروسته موږ خپل کور ته راغلو اوس موږ درخصتی طلبګار یو نو دښځی پلار وايي چی زموږ لور ستا په اقرار ناسته ده ستا سره به نه وي که تا داقرار خلاف کار وکی نو ستا نکاح به ماته سی آیا موافق دشریعت زموږ نکاح ماته سوه اوکه قائمه ده؟

جواب: که تا په نکاح کی داشرط کړی وو چی موږ به خپله ښځه ددی دپلار په کور کي ساتو اوجامه او ډوډی به ورکوو اوکه يې نه ورکوو نوپه دی طلاق دی اودا زموږ دنکاح څخه بهر ده نوپه صورت دنه ورکولو دنان اونفقه پردی به طلاق واقع وی اودا به ستا

---

(۱) وتنحل اليمين بعد وجود الشرط مطلقا (الدرالمختار على هامش ردالمحتار باب التعليق ج۲ ص۲۹۰. ط. س. ج۳ ص۳۵۵) دلته شرط نه دی پوره سوی لهذا طلاق واقع نه سو. ظفیر

دنکاح څخه ووزی اوکه دطلاق تعلیق دی نه وو کړی نو بیا به پردی طلاق نه وی واقع او نکاح به فسخ نه وی اوته خپله ښځه بیولی سی (په سوال کی دتعلیق ذکر نسته ددی وجه څخه طلاق واقع نه سو. ظفیر)

<u>په مذکوره صورت کی به طلاق نه وي</u>: سوال: (۷۳۵) یوسړی دنکاح څخه وروسته په خپل قلم سره ولیکل که زه په دی منکوحه بل واده وکړم یا ددی منکوحه اوددی دمور درضاء څخه بغیر بل ځای سکونت اختیار کړم نو دامنکوحه به زما طلاقه وی په طلاق بائن سره بیا دی سړی بغیر درضاء ددی دواړو څخه په یوکلی کی امامت وکی اوهلته اوسیدی په بعضو ورځو کی به دماخستن دلمانځه څخه وروسته کور ته راتلی اودسهار دلمانځه څخه به مخکی تلی نو دده منکوحه په طلاق بائن طلاقه سوه اوکه نه؟

جواب: اقول وبالله التوفیق ښکاره داده چی په دی صورت کی دده پرښځی طلاق بائن واقع نه دی ځکه چی غرض دحالف دبل ځای داوسیدو څخه دامراد وو چی سره داهل او عیال بل ځای سکونت اختیار کړم کما لا یخفٰی، نو دملازمت دپاره یوځای تلل اوهلته په ضرورت دملازمت اوسیدل نو دغه ځای دائما داوسیدو ځای جوړول نه دی، قال فی الدر المختار والمساکنة بالاستقرار والدوام وذالك باهله ومتاعه الخ ([1]). ج۳ ص۷۸۰. وقال قبیله ان المساکنة لاتثبت الاباهل کل منهما ومتاعه الخ ([2]). فقط

<u>چی داسی ښځه ونه سی نوزما پرښځی دری طلاقه نو دداسی نه کیدو په صورت کی طلاق به واقع وي</u>: سوال: (۷۳۶) یوسړی په عدالت کي دمقدمی دپیشی په وخت کي دا وویل چی که زه نن په دی مقدمه کی فتح نه کم پیدا نوماته دری طلاقه شرعی دی اوپه مقدمه کی کامیابی ونه سوه نودده ښځه طلاقه سوه اوکه نه؟

جواب: فی الدرالمختار وعلی الطلاق وعلی الحرام فیقع بلانیة للعرف ([3])، تحقیقه فی ردالمحتار، نومعلومه سوه چی په دی صورت کی دشرط دتحقق دوجه څخه دده په ښځه دری طلاقه واقع سوه. فقط

<u>په دی صورت کی چی کله شرط موجود نه سو نوطلاق واقع نه سو</u>: سوال: (۷۳۷) زید دخپل پلار اودنورو وړونو سره دکان کوی داوسیدو ځای دده جدا دی یوبل ورور دزید دی دهغه غلاوسوه زید قسم واخستی چی زماغلانه ده سوه که زماغلاسوی وی نوزما ښځی ته دری‌طلاقه په دی صورت کی دزیدښځه طلاقه سوه اوکه نه ځکه چی مال دټولو شریك

([1]) ردالمحتار کتاب الایمان مطلب حلف لا یساکن فلانا ج۳ ص۱۰۷. ط. س. ج۳ ص۷۵۰. ظفیر
([2]) ایضا ج۳ ص۱۰۷. ط. س. ج۳ ص۷۵۰. ظفیر
([3]) الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب الصریح ج۲ ص۵۹۴، ط. س. ج۳ ص۲۵۲. ظفیر

دی خودزید مراد داوو چی زماپه کور کی غلا نه ده سوی؟
جواب: که زید دانیت کړی وی اوتعلیق یی کړی وی چی زما په کور کی غلانه ده سوی اوکه سوی وی نو الخ نو په دی نیت سره په حلف کولو کی دده ښځه طلاقه نه سوه ځکه چی دده په کور کی غلا نه ده سوی. فقط

<u>په مسئوله صورت کی طلاق واقع نه سو</u>: سوال: (۷۳۸) یوسړی خپلی ښځی ته داوویل او وی لیکل چی که زه دبلی ښځی سره ماسوا ستا څخه حرام کار وکړم ددی په باره کی خبری وکړم نو دبی بی جنت خاتون سره به داسی کوم والعیاذ بالله تعالی، ددې څخه وروسته دی دیوی بلی ښځی سره په خبرو کولو ولیدل سو نو دده ښځه پرده حرامه سوه او که نه اوپه دی لفظ سره کافر سو اوکه نه؟
جواب: په دی صورت کی دده ښځه پرده حرامه نه سوه اوپر دی طلاق واقع نه سو اوکفر هم پرده عائد نه دی چی ده څه ویلي یایی لیکلی دی ددی څخه دی توبه وکاږی اوبیا دی داسی نه وايي.

<u>وعده وه چی دخوابنبی په کورکی به یی ساتمه اوس که دی یی خپل کورته بوزی نوڅه حکم دي؟</u> سوال: (۷۳۹) ما عاجزه دیوی ښځی سره نکاح وکړه او دمنکوحی مور دنکاح څخه مخکی په ما باندی داوعده ولیکله چی زه به ددی دمرضی خلاف دامنکوحه ددی دکور څخه دباندی نه بیایم صرف همدا الفاظ وه څه قسم تعلیق وغیره نه وو، اوس منکوحه زه خپل کور ته بوتلل غواړم نو زما په نکاح کی به څه فرق راځی اوکه نه؟
جواب: په دی صورت کی چی تعلیق نسته، نو ددی وجه څخه که داسړی خپله ښځه بی داجازت دموره خپل کورته بوزی، نو په نکاح کی هیڅ خلل نه راځی اوطلاق به واقع نه وی، خوپه وجه دوعدی دی سړی لره دوعدی خلاف بی دضرورت څخه نه دی کول په کار او خپله ښځه بېول نه دی په کار اوکه دضرورت په وجه یی بوزی نوجائز دی اوهیڅ کفاره پرده لازمه نه ده. فقط

<u>قصور ښکاره کړه کنې دری طلاقه قصور یی ښکاره نه کړی نوطلاق واقع نه سو</u>: سوال: (۷۴۰) دزید دښځی حمیده څخه یو قصور وسو زید سخت په غصه کی حمیدې ته وویل که تاخپل قصور ښکاره کی نوزه به ستا جرم معاف کړم کنې تاته دری واره طلاق دی دزید ددی ویلو څخه مخکی حمیدی دزید خورته خپل قصور ښکاره کړی وو چی وروسته بیا زید ته هم ښکاره سو، نوطلاق واقع سو اوکه نه؟
جواب: په دی صورت کی چی حمیدې خپل قصور ښکاره کی اوزید ته هم ښکاره سو نو ددی وجه څخه حمیده طلاقه نه سوه موافق ددی قاعدی چی: اذا فات الشرط فات المشروط. فقط

که بي له رضاء يي بوزم نونکاح به فسخ وي اوس يي څه حکم دی؟ **سوال**: (۷۴۱) خلاصه دسوال داده چي خاوند ښځی ته دا وليکل چي وروسته دنکاح کيدو څخه دا اقرار کوم چي که منکوحه بی درضاء بل ځای ته بوزم نوزما نکاح به فسخ وی اوښځی هم دا الفاظ وويل دخاوند څخه يي اقرار نامه وليکله نوپه دی صورت کی مذاکره دطلاقو به وی او که نه؟ اودطلاقو دوقوع به څه حکم وی؟

جواب: دفسخ دنکاح لفظ چی دصريح طلاق لفظ نه دی اوښځی هم دالفظ ويلی دی او صراحةً يی طلب دطلاقو ونه کی نومذاکره دطلاقو ونه سوه نوددی وجه څخه دخاوند نيت ته به اعتبار وی، که ښځي په صريح الفاظوکی طلب دطلاق معلق کړی وي پردی باندي خاوند دفسخ دنکاح لفظ تعليقاً وايي، نوپه وخت کي دوجود دشرط به طلاق بائن دده پرښځی واقع کيږی، کمافی الدرالمختار: وتنحل اليمين بعد وجود الشرط مطلقا الخ (۱). فقط

که نکاح ونه کړم نو زما پرښځی دری طلاقه، ددی ويلو څه حکم دی؟ **سوال**: (۷۴۲) دزيد واده سويدی اودی قسم کوی چی که دی بله نکاح ونه کړی نوزما په منکوحه به دری طلاقه وی، نوکه زيد بل واده ونه کی نودزيد دمنکوحی دپاره څه حکم دی؟

جواب: زيد که دوهم واده ونه کی چی هغه دهندی سره وی اوکه دبل چاسره نو دده پر منکوحه به دری طلاقه واقع وی خو اوس به په مخکی منکوحه طلاق نه وی واقع ځکه چی ده لاتر اوسه څه وخت دخپلی دوهمی نکاح مقرر نه کی نوپوره موده دژوند ددی وخت دی نوکه دژوند آخره پوری ده بله نکاح ونه کړه نودغه وخت به دده پرمخکی ښځه باندی دری طلاقه واقع سی.

دشريعت خلاف څه کار که وکړم نوتاته دطلاقو اختيار به وی اوس که قبر ته سجده وکړی نو اختيار به وی اوکه نه؟ **سوال**: (۷۴۳) دخاوند دطرف څخه دا اقرار نامه وليکل سوه چی که زه دشريعت خلاف څه کار وکړم نوښځی ته به اختياروی چی زماڅخه جلاسی اوطلاق واخلی نوچی کله ناوی دده کره ولاړه نوده قبرونو ته سجده وکړه، ناوی دپلار کره راغله او خاوند ته يی وويل چی ته پايينده دشريعت سه کنې زما مهر اداء کړه نوخاوند هيڅ ونه ويل نوپه دی بناء ښځی خپل ځان ته دری طلاقه واچول نوداطلاقونه وسول اوکه نه؟

جواب: په دی صورت کی داتعليق اوتفويض چی دخاوند دطرفه خپلی ښځی ته وسو صحيح وو اودعدم ايفاء دشرط په صورت کی ښځی ته دطلاق اختيار وو خودا اختيار

(۱) الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب التعليق ج۲ ص ۲۹۰. ط. س. ج۳ ص ۳۵۵. ظفير

ترهغه وخته وو چې کم وخت دخاوند څخه خلاف دشریعت امر صادر سو یعنی سمدستی دصادریدو سره که ښځې خپل اختیار استعمال کړی وي نوطلاق واقع کیدی، خوچې څه موده داسې پکښې تیره سوه اودې دخپل مفروضه اختیار څخه کار وانه خیستی نوپه ښکاره دا اختیار اوس دیته نسته ځکه چې په تفویض کې هیڅ یولفظ داسې نسته چې داختیار په استمرار اوپر دوام دلالت وکړی نوددی وجه څخه دا اختیار بس دعدم ایفاء دشرط په وخت پوری محدود وو، ښځې چې ددومره مودی څخه وروسته په خپل اختیار سره طلاق اخیستی هغه واقع نه سو، په شامي کې دی چې: قوله أمرك بيدك مثله المعلق كإن دخلت الدار فأمرك بيدك فإن طلقت نفسها كما وضعت القدم فيها طلقت وإن بعد ما مشت خطوتين لم تطلق لأنها طلقت بعد ما خرج الأمر من يدها بحر عن المحيط (۱). فقط

ددې ښځې په ژوند کې که بل واده وکړم نو دې بلې ته دری طلاقه، اوس چې اولنی ته طلاق ورکړی اودوهم واده وکړی، نو څه حکم دی؟ سوال: (۷۴۴) علی افسر نومي شخص دبیوی جان سره نکاح وکړه اودایي ولیکل چې دبیوی جان په ژوند کې که دبلې ښځې سره نکاح وکړم نودابه په دری طلاقو طلاقه وی اوس علی افسر بیوی جان ته طلاق ورکړی اودبلې ښځې سره یی نکاح وکړه نوپر دې ښځه دری طلاقه واقع سوه اوکه نه؟

جواب: په دې صورت کې په ژوند دمخکنی ښځې بیوی جاني که علی افسر بله نکاح وکړه نودغه ښځه به طلاقه وی په دری طلاقو، لان الأيمان مبنية على الالفاظ لاعلى الاغراض، درمختار، وفي ردالمحتار وعلى هذا ولو قال لامراته كل امراة اتزوجها بغير ذالك فطالق فطلق امراته طلاقًا بائنًا او ثلاثًا ثم تزوج بغير اذنها طلقت لانه لم تتقيد يمينه ببقاء النكاح الخ (۲). فقط

طلاقنامه یی ولیکله خووی ویل چې ترڅو دمهر معافي ونه لیکی نودا تحریر به درنه کړل سی نوڅه حکم دی؟ سوال: (۷۴۵) زید خپلی ښځې ته طلاق تحریر کړی خپل عزیز ته یی ولیږی اوتاکید یی وکی چې ترڅو زما ښځه دمهر ددین څخه دست برداره نه سی نودا تحریر هغې ته مه ورکوه، دزید ښځې ددست برداره کیدو څخه انکار وکی نوطلاق واقع سو اوکه نه؟

جواب: دزید داتحریر پرمعافي دمهر موقوف وو، لکه چې دزید دتصریح دمابعد څخه معلومیږی نوکه دی ښځې معافي دمهرمنظوره نکړه نوطلاق به واقع نه وی‌حکم التعالیق

(۱) ردالمحتار باب الامر باليد ج۲ ص ۲۲۲. ط. س. ج۳ ص ۳۲۷. ظفير
(۲) الدرالمختار على هامش ردالمحتار كتاب الايمان ج۳ ص ۱۸۸. ط. س. ج۳ ص ۸۴۲. ظفير

والعبرة للمعانی. فقط

وی ویل چی دنن ورځی ښځه که زما بدن ته دی ګوتی وروړی نوپر تا دری طلاقه دشپی یی ګوتی ور وړی نوڅه حکم دی؟ سوال: (۷۴۲) یوسړی ښځی ته دشپی په وخت په غصه کی دا وویل چی دنن ښځه که تازما بدن ته ګوتی وروړی نوپر ما دری طلاقه، ښځه وبیریدله اودخاوند لاس یی ونیوی چی مامعاف کړه دخاوندپه کلام کی دورځی قیددی اودخاوند نیت دطلاق ورکولو نه وو نوپه دی صورت کی به دده پرښځی طلاق واقع وی اوکه نه؟

جواب: شرعی حکم دادی چی صریح لفظ دطلاقو که معلق وی اوکه منجز، په دې کی دنیت اعتبار نسته اوبغیر دنیت ښځه به هم طلاق واقع کیږی. کذافی الدرالمختار اوپه داسی موقع باندی دورځی ښځه مراد مطلق وخت وی ګواکي مطلب دادی چی ددی وخت ښځه که تا په ما پوری لاس ولګوی الخ، نوپه دی صورت کی دده پرښځی دری طلاقه واقع سوه، اوبی دحلالی داسړی ددی خپلی ښځی مطلقی سره دوباره نکاح نه سی کولی. کما قال الله تعالٰی فان طلقها فلا تحل له من بعد حتٰی تنکح زوجا ([1]) غیره الاٰیة، وقال ﷺ ثلث جدهن جد وهزلهن جد الحدیث ([2])، قال فی الشامی ای لوقال یوم احکم فلانا فانت طالق فهو علی اللیل والنهار الخ ([3]). فقط

دامامت اودملازمت ښځه ماسوا که تا پریږدم اوسکونت وکړم نوښځه می طلاقه ددی ښځه وروسته یی په بل کلی کی دامامت ملازمت وکی، نوڅه حکم دی؟ سوال: (۷۴۷) یوښځی یومسافر دکور زوم کی اوور ته وې وویل چی که ته په کور کی په شان دحقیقی فرزند اوسیږی نوزه به دخپلی لور نکاح ستاسره وکړم داسی نه وی چی وروسته دنکاح ښځه په بل ځای کی زما درضاء ښځه بغیر سکونت وکړی نومسافر وویل چی که زه ستا درضا ښځه بغیر تاسی دواړه پریږدم اوسکونت وکړم په بل ځای کی نوزما منکوحه داستا لور به په بائن طلاق سره طلاقه وی، او دامامت او دملازمت دمنع کولو اختیار به تاته نه وی اوپه دی دواړو سره به طلاق واقع نه وی، ددی ښځه وروسته ده په یوبل کلی کی په ذریعه دامامت بغیر دمنکوحی سکونت اختیار کی، نوپه دی صورت کی به دده پر ښځه طلاق وی اوکه نه؟

جواب: په دی صورت کی چی کله مذکور مسافر دامامت دملازمت سکونت مستثنٰی کړی نوکه دامامت اودملازمت په وجه دی په بل ځای کی سکونت وکړی نوشرط دحنث

([1]) سورة البقرة : رکوع ۲۹. ظفیر

([2]) مشکوٰة ج۲ ص۲۸۴. ظفیر

([3]) ردالمحتار . ظفیر

به نه وی موجود اوددی وجه ځخه به دده ښځه مطلقه نه وی ځکه چی انحلال دیمین پر وجود دشرط دی نو چی کله وجود دشرط نه وی متحقق نوبحث به هم نه وی اومذکوره جزآء به پردی مرتبه نه وی، کمافی الدرالمختار وتنحل الیمین بعد وجود الشرط مطلقا الخ (۱)، نوچی کله شرط متحقق نه سو نوحنث یعنی وقوع دطلاقو هم نسته خوکه دنفقی په باره کی داتعلیق وو چی مذکوره مسافر که نفقه ورنه کړی نودا به مطلقه بائنه وی، او بیا یې وعده سوی نفقه ورنه کړه نوبائن طلاق به واقع ځکه وی چی دشرط وجود متحقق دی نوحنث به په دی. فقط

دنکاح ځخه شپږ کاله وروسته چی کم شرط ولیکل سو نو په دی سره به هم طلاق وی: سوال: (۷۴۸) سائل دیوی ښځی سره نکاح وکړه اودنکاح په وخت هیڅ قسمه اقرار ونه سو شپږ کاله وروسته چی کله دړولی مطالبه وسوه نو دمنکوحی پلار وویل چی موږ رسومات دواده هلته کوو چی موږ ته دالیکلی راکول سی چی ناکح به دخپلی منکوحی دمور او پلار په کور کي اوسیږی سائل مجبوره سو اودا اقرار نامه یې ولیکله چی که جبراً ده خپله منکوحه دمور اودپلار ځخه جلا کړله نونکاح به فسخ ګڼل کیږی، نوپه دی صورت کی دشرط په موجودیدو سره طلاق به واقع وی اوکه نه؟

جواب: دسائل داعذر صحیح نه دی چی په وخت دنکاح څه شرط نه وو سوی اوشپږ کاله وروسته چی دواده په وخت کم شرط وسو نوهغه صحیح نه دی ځکه چی شرعًا دنکاح ځخه وروسته داقسم شرط تعلیق دی نوکه په نیت دطلاقو خاوند دا اقرارنامه لیکلی وی چی په جبراً بیولو باندی به نکاح فسخ ګڼل کیږی اوجبراً بیول ثابت سی په دوو شاهدانو عادلانو سره نوپر ښځی به طلاق واقع وی، کمافی الدرالمختار شرطه الملك او الاضافة الخ (۲)، وتنحل الیمین بعد وجود الشرط مطلقا الخ (۳). فقط

دتحریر خلاف په پټه ددغه کار په کولو سره به هم طلاق واقع وی: سوال: (۷۴۹) عبدالرحمٰن یوه اقرار نامه تحریرکړه چی دهغه نقل ارسال دی، اوس عبدالرحمٰن اودده ښځه اووارثان غواړی چی شرائط داقرارنامی فسخ کړی نوداجائز دی اوکه نه؟ که عبدالرحمٰن په پټه خلاف داقرار وکړی اوشرعی شهادت نه وی نودده ښځه به طلاقه وی اوکه نه؟

جواب: عبدالرحمٰن اودده وارثان ددی شرط ځخه اوښتلی نه سی، که عبدالرحمٰن خلاف داقرار نامی وکړی، یعنی خپلی ښځی ته دنان اودنفقی تکلیف ورکړی اویا ډډه وکړی که

(۱) الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب التعلیق ج۲ ص۶۹۰. ط. س. ج۳ ص۳۵۵. ظفیر
(۲) ایضا ج۲ ص۶۸۰. ظفیر
(۳) ایضا ج۲ ص ۶۹۰. ط. س. ج۳ ص ۳۴۴. ظفیر

په پته وی اوکه په ښکاره دده پرښځه به دری طلاقه وی، کماقال فی الدرالمختار وتنحل الیمین بعد وجود الشرط مطلقا الخ (۱). فقط

که دامقام پریږدی اوبل ځای ولاړ سی نوشپږ میاشتی وروسته به پرښځی دری طلاقه وی اوس نوپه لاندینی صورت کی څه حکم دی؟ سوال: (۷۵۰) زید خپلی ښځی ته دا اقرار نامه ولیکله چی موږ په گهوسی کی اوسیږو که گهوسی پریږدو اوبلی خواته ولاړ سو نوشپږ میاشتی وروسته به زموږ ښځه نظیرن ته دری طلاقه وی داقرار نامی څخه وروسته زید دوی میاشتی په گهوسی کی اوسیدی ددی څخه وروسته بلی خواته ولاړی، اوبیا په شپږو میاشتو کی دننه گهوسی ته راغلی، اوخپله ښځه یی رخصت کړه اودځان سره یی بوتله اویوه شپه یی په کورکي وساتله اوبیرته یی دمور اودپلارکره راوستله اوڅه ورځی په گهوسی کی اوسیدل، بیا بلي خواته ولاړی اوس داتلسو میاشتو راهیسی گهوسی ته را نغی نوپر نظیرن باندی موافق داقرار نامی طلاق واقع سو اوکه نه؟

جواب: په دی صورت کی که زید داووایي چی زما مراد په مذکوره شرط سره داوو چی درخصت کولو څخه مخکی که زه گهوسی پریږدم اوبل ځای ولاړسم نونظیرن ته دری طلاقه دي نو چی زید درخصت کولو څخه مخکی دشپږو میاشتو دپاره غائب نه سو، بلکی په شپږ میاشتی کی دننه گهوسی ته راغی اوخپله ښځه یی رخصت کړه نودطلاقو شرط موجود نه سو نودری طلاقه واقع نه سوه اوچی کله یووار شرط منحل سو نو دوباره به په دي شرط سره طلاق واقع نه وی اوکه زید خو خپل دامراد نه بیانوی اوشرط مطلق ساتی چی څه وخت هم دگهوسی څخه دشپږو میاشتو دپاره غائب سوم نو دده په ښځی به دری طلاقه واقع وی نو په دی صورت کی دده ښځه مطلقه ثلاثه سوه، ځکه چی شرط موجود سو، قال فی الدرالمختار وتنحل الیمین بعد وجود الشرط مطلقًا الخ (۲).

دلاندینی شرط نامی خلاف کولو څه حکم دی؟ سوال: (۷۵۱) زید دخپلی لور نکاح دبکر سره په څو شرطونو وکړه چی په استامپ باندی بکر دنکاح څخه مخکی په خپله تحریر کړل، چی په هغه کی یوشرط داهم دی چی که یو سړی دخپل اخښی بی عزتی وکړی نوپه صورت دوعده خلافی کي به پرهنده باندی زما دښځی والی حق نه وی اوس بکر وعده خلافی وکړه دزید او دده داخښی یی په ناحقه بی عزتی وکړه نودهندی نکاح دبکر سره فسخه سوه اوکه نه؟

جواب: دنکاح څخه مخکی چی‌کمه اقرارنامه اوتعلیق دطلاقوخاوندکړی دی نوهغه شرعًا

---

(۱) الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب التعلیق ج۲ ص ۲۹۰. ط. س. ج۳ ص ۳۵۵. ظفیر

(۲) ردالمحتار علی هامش ردالمحتار باب التعلیق ج۲ ص ۲۹۰. ط. س. ج۳ ص ۳۵۵. ظفیر

معتبر نه دی خودنکاح ځخه وروسته که په یو شرط باندی خاوند دخپلی ښځی طلاق معلق کړی نو ددی شرط په موجودیدو سره به دده ښځه طلاقه سی په شرط ددی چی صریح لفظ دطلاقو ذکر وی یا لفظ دکنایی طلاقو په نیت دطلاقو ذکروی، اوپه دی صورت کی چی لفظ دکنایه ذکردی نوپه دی کی که نیت دطلاقو وی نو یوطلاق بائن واقع کیږی نو ددی وجه ځخه بی دحلالی داول خاوند سره دوباره نکاح کیدی سی.

اووم باب

دطلاق متفرق مسائل

پرښځی باندی دجیل تیریدو ځخه وروسته آیا خاوند په طلاقو باندی به مجبوره سی؟ سوال: (۷۵۲) آیادښځی په جیل تیرولو باندی خاوندبه شرعًا په طلاقو ورکولوباندی مجبورول کیږی ؟

جواب: نه سی مجبوره کیدی ([۱]). فقط

آیا جبرًا ښځه دخاوند کره لیږلی سی؟ سوال: (۷۵۳) آیا ښځه په جبر سره په دی حالاتو کی دخاوند کره نه سی لیږلی؟

جواب: ښځه به دخاوند کره په لیږلو مجبورول کیږی ([۲]). فقط

قاضی طلاق ورکولی سی اوکه نه؟ سوال: (۷۵۴) آیا په داسی صورت کی بی درضا مندی دخاوند ځخه دجیل په تیرولو دښځی دراخلاصیدو ځخه وروسته شرعی حاکم په شان دقاضی طلاق ورکولی سی اوتفریق کولی سی اوکه نه دخاوند ځخه ماسوا بل ځوك طلاق نه سی ورکولی؟

جواب: صرف خاوند طلاق ورکولی سی قاضی اوحاکم تفریق نه سی کولی اوهم طلاق نه سی ورکولی ([۳]).

دښځی دعوه او ددی حیثیت: **سوال**: (۷۵۵) که ښځی په خلاصیدو باندی دفارغ خطی دعوٰی وکړی اودا دعوٰی وکړی چی زما خاوند شیخ یاصدیقی نه دی نوددی وجه ځخه زه تلل غواړم نوشرعًا په داسی عذر باندی طلاق عائد کیدی سی اوکه نه؟

([۱]) لایجب علی الزوج تطلیق الفاجرة ولاعلیها تسریح الفاجرة (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار فصل فی المحرمات ج۲ ص۴۰۲. ط. س. ج۳ ص۵۰). ظفیر

([۲]) وینقلها فیما دون مدته ای السفر من المصر الی القریة وبالعکس ومن قریة الی قریة (درمختار) وقول الله تعالی اسکنوهن من حیث سکنتم، وګوری: ردالمحتار باب المهر ج۲ ص۴۹۵. ط. س. ج۳ ص۱۴۷. ظفیر

([۳]) ولا یقع طلاق المولی علی امراة عبده لحدیث ابن ماجه الطلاق لمن اخذ بالساق (الدرالمختار علی هامش رد المحتار کتاب الطلاق ج۲ ص۵۸۵. ط. س. ج۳ ص۲۴۲). ظفیر

جواب: داسی عذرونه قابل دسماعت نه دی. وهذا کله من الدرالمختار (۱) وردالمحتار.

وی لیکل چی ما دفلانی ورځی څخه دخاوند دکیدو خیال دزړه څخه ایستلی دی نوطلاق واقع سو اوکه نه؟ **سوال**: (۷۵۶) که یوی ښځی ته ددی خاوند په خط کی دا ولیکل اووی لیږل چی مادخپل زړه څخه دخاوند کیدو خیال دتیری جنوری سنه ۱۹۴۳ څخه ایستلی دی، نوپه دی صورت کی دده پر ښځی طلاق واقع سو اوکه نه؟

جواب: په دی صورت کی دده پر ښځه طلاق واقع نه سو اونکاح قائمه ده، کذا یفهم من کتب الفقه لانه لیس بصریح ولا کنایة متعینة. فقط

جبراً طلاق اچول څنګه دی اودجبرکولو والا متعلق څه حکم دی؟ **سوال**: (۷۵۷) جبراً طلاق اچول شرعًا څنګه دی دمکرهین مجبرین علی الطلاق دشریکانو او دمددګارو څه حکم دی؟ او دمکرهینو څخه دبائکاټ کولو څخه وروسته په معافی غوښتلو باندی دوی ته معافی ورکول سوه، ددی څخه وروسته دوی ته دعوت کول اوبیا یې ددسترخوان څخه ولاړول او ددوی ددسترخوان څخه په ولاړولو سره دجومات دامام زوی اووراره هم پورته سول، دمسجد امام ددوی تحسین وکی نوآیا دجومات په امام پسی لمونځ کول صحیح دی اوکه نه دده معزولول اودبل امام مقررول څنګه دی؟

جواب: داحنافو په نزد دمکره طلاق واقع کیږی په دلیل دحدیث پاك: ثلاث جدهن جد وهزلهن جد الخ، (۲) باقی داچی په خاوند اکراه کول چی دی طلاق واچوی په دی کی تفصیل دی که خاوند دښځی حقوق نه اداء کوی اوښځی ته ضرر ورکوی نوکه دی طلاق ورنه کړی اونه امساك بالمعروف وکړی نو دده څخه په اکراه اوپه جبر طلاق اخیستل جائز دی بلکی ضروری دی اوکه بی وجه اوبی دعذر شرعی اکراه وسی نوګناه اوظلم (۳) دی، اوچی کله مجرمانو ته معافی ورکول سوه نوبیا دوی دیو دعوت څخه ولاړول نه وو په کار اوپه مذکوره امام پسی لمونځ صحیح دی اوپه مذکوره وجه دامام مذکور معزول کول صحیح نه دی اوتفریق بین المسلمین یوبد کار دی. فقط

په کاڼو غورځولو سره طلاق نه واقع کیږی که څه هم رواج وی: **سوال**: (۷۵۸) په یو ملك کی رواج دی چی دطلاق ورکولو په وخت صرف کاڼی ښځی ته ور غورزوی په ژبه څه نه وایي په دی سره طلاق واقع کیږی اوکه نه؟

---

(۱) لو زوجها برضاها ولم یعلموا بعدم الکفاءة ثم علموا لاخیار لاحد (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب الکفاءة ج۲ ص۴۳۷. ط. س. ج۳ ص۸۵). ظفیر

(۲) مشکوٰة المصابیح باب الخلع والطلاق ص۲۸۲. ظفیر

(۳) ویجب (الطلاق) لوفات الامساك بالمعروف ویحرم لو بدعیا ومن محاسنه التخلص به من المکاره الخ (الدر المختار علی هامش ردالمحتار کتاب الطلاق ج۲ ص۵۷۲. ط. س. ج۳ ص۲۲۹). ظفیر

جواب: په کانبي غورزولو سره طلاق نه واقع کيږی، کذا فی الشامی (1).

اقرار نامه یی ولیکله اوخپل حق دطلاقو یی روح دنبوت ته تفویض کی ددی به څه اثر وی اوکه نه؟ **سوال**: (۷۵۹) یوسړی دا اقرار نامه ولیکله چی زما دښځی فلانی بنت فلان دمهر مثل په عوض کي دخپل طلاق حق دحضرت محمد ﷺ روح ته سپارم، په دی سره به پرطلاقو څه اثر وی اوکه نه؟

جواب: دامضمون داقرار نامه شرعًا لغوه دی په دی باندی به هیڅ اثر دطلاقو وغیره مرتب نه وی. فقط

دطلاقو دثبوت دپاره شرعی شهادت ضروری دی: **سوال**: (۷۶۰) دزید انتقال وسو ددی څخه وروسته دده وارثان داوایي چی زید خپلی ښځی ته دری طلاقه ورکړی وه اودطلاق څخه وروسته یی په خپل کورکی ساتله ددی څخه دوی انجونی پیدا سوی اوښځه دزید وایي چی ماته یی طلاق نه دی راکړی بلکی بلی ښځی ته یی ورکړی وو، اوداتللی ده اوبیا دی کورته نه ده راغلی اوزه یی بیاپه کورکی وساتلم ماته یی طلاق نه دی راکړی داخلګ زما دمحرومولو په غرض داسی وایي، اویو شاهد وایي چی ماپخپله دزید طلاق ورکول اوریدلی دی، اونور خلګ دنورو څخه اوریدل بیانوی نوپه دی صورت کی به دزید ښځه طلاقه سوی ګڼل کیږي اوکه نه؟ اودترکه څخه به محرومه وی اوکه نه؟

جواب: په دی صورت کی طلاق ثابت نه دی اوددی دلوڼو نسب دزید څخه ثابت دی اودا ښځه اوددی لوڼی وارثان دزید دی (2). فقط

دفاسقانو په شاهدی طلاق نه ثابتیږی: **سوال**: (۷۶۱) دوه څلور کسان ددی خبری ددروغو شاهدی ادا کوی چی زید خپلی ښځی ته طلاق ورکړیدی، داشاهدی بی داقرار دزید څخه معتبره ده اوکه نه؟

جواب: که زید اقرار دطلاقو نه کوی اوڅه باقاعده شرعی ثبوت دطلاقو نه وی نوصرف دفاسقانو په شاهدی سره به طلاق ثابت نه وی (3).

قسم یی واخستی اووی ویل چی نه به یی رابولم اوشپږ میاشتی یی را ونه بلله نوپه دې سره طلاق واقع سو اوکه نه؟ **سوال**: (۷۶۲) زید اوهنده ښځه اوخاوند دی هنده دپلاره کره په

---

(1) وبه ظهر ان من تشاجر مع زوجته فاعطاها ثلثة احجار ینوی الطلاق ولم یذکر لفظ لا صریحا ولا کنایة لا یقع علیه ایضا ج۲ ص۵۷۴. ط.س. ج۳ ص ۲۳۰). ظفیر

(2) دوه سړیان اویا دوی ښځی اویوسړی دشاهدی نصاب دی اودغه دلته پوره نه دی، وماسوٰی ذالك من الحقوق یقبل فیها شهادة رجلین اورجل وامراتین مثل النکاح والطلاق (هدایه ج۳ ص ۱۳۹). ظفیر

(3) وشرائط الاداء عشرة عامة (درمختار) فهی الحریة والبصر والنطق والعدالة الخ (ردالمحتار کتاب الشهاداة ج۳ ص۵۱۳. ط. س. ج۳ ص۴۶۴). ظفیر

یوه حیله باندی ولاړه، زید یی دراوستلو دپاره ولاړی خو دا رانغله اودهندی مور اوپلار اووړونو وغیره ورسره تکرار وکی خوخبره عدالت ته ورسیده، چی په دی کی دوه کاله تیر سوه، اخر زید په ذریعه دعدالت را وغوښتل سو، نودهندی دجانبه داعذر وسو چی زید قسم کړیدی او ویلی یې دی چی زه به دانه راغواړم اوچي تر شپږو میاشتو پوری یی را ونه بولم نوطلاق بائن واقع سو، آیا داصحیح دی چی طلاق واقع سو اوکه نه؟

جواب: که بالفرض زید دا الفاظ ویلی وی چی زه به یی نه رابولم او بیایی ترشپږمی میاشتو پوری هم نه وی رابللی، نو په دې سره طلاق واقع نه سو (لانه لیس من صریح الطلاق ولا من کنایة، هکذا فی کتب الفقه). فقط

<u>دلاندینی صلح په بناء طلاق واقع سو اوکه نه؟</u> سوال: (۷۲۳) دزید ښځه په خوشحالی سره ددرو ورځو دپاره دمور اودپلار کره ولاړه، اوبیایی دراتلو څخه انکار وکی، نوپر دی څه تکرار وسو، په عدالت کی په دی شرط مصالحت وسو چی هنده خپل دین دمهر معاف کړی (چی کنبت اوکور دی چی زید په مهر کی لیکلی وو) اوزید به دی ته طلاق ورکړی تحریر دصلح نامه دادی چی مدعا علیه نمبر (۱) مدعیه ته طلاق ورکی اوزما دمدعیه سره هیڅ واسطه نسته چی کم ځای اوسیږی خوښه یی خپله اوکه دوهمه نکاح کوی، خو زید په قسم سره وايي چی صلح نامه مانه ده لیکلی اونه ماپه چا لیکلی ده بلکی دهندی وکیلانو په خپله لیکلی ده اوپه جبر یی زما څخه دستخط اخیستی دی، اوپه دی باندي منصف صاحب مصالحت منظور کی خو ددستخط په وخت نه زما نیت دطلاق وو اونه می په ژبه سره دطلاق لفظ ویلی دی نوپه هنده طلاق واقع سو اوکه نه؟

جواب: په دی صورت کی موافق ددی سوال طلاقه نه سوه. فقط

<u>ښځه بدکاره وختله اوخاوند بغیر دکافی رقم اخیستو څخه طلاق نه ورکوی نوده ته به دیوث ویل کیږی اوکه نه؟</u> سوال: (۷۲۴) چی کله دچا ښځه دبل سړی سره تعلق پیدا کړی اودا سړی غواړی چی مخکنی خاوند دیته طلاق ورکی خومخکنی خاوند بغیر دکافی رقم اخیستو څخه طلاق نه ورکوی نودا خاوند دیوث دی اوکه نه؟ اوروپی اخیستل اوطلاق ورکول څنګه دی؟

جواب: داخاونددیوث نه دی اوقصور اوګناه پرښځی ده اوطلاق ورکول اوروپی اخیستل صحیح دی لکه چی په خلع کی کیږی. فقط

<u>آیا داصحیح ده چی دکمی ښځی شل بچیان اوسی نودا دنکاح څخه ووزی؟</u> سوال: (۷۲۵) دلته پردی خبره جګړه ده چی دکمی ښځی شل بچیان وسی نودا دنکاح څخه ووزی او نکاح ثانی کیدل په کار دی؟

جواب: داخبره غلطه ده دابښځه ددستور مطابق دخپل خاوند په نکاح کی ده. فقط

چی کمه ښځه په زنا کی اخته سی نو دیته طلاق ورکول ضروری دی اوکه نه؟ سوال: (۷۲۶) یوسړی ملازم سو اوپه سفر ولاړی څلور کاله وروسته بیرته راغی دده څخه وروسته دده ښځی دده دورور سره ناجائز تعلق وکی دزنا څخه هلك پیدا سو نو شرعًا داسی ښځی ته طلاق ورکول ضروری دی اوکه نه؟

جواب: که دابښځه توبه وکاږی نودیته طلاق ورکول اوپریښوول ضروری نه ده اونکاح قائمه ده، درمختار کی دی: وفی آخر حظر المجتبٰی لایجب علی الزوج تطلیق الفاجرة الخ [1].

استاذ دطلاق ورکولو ورته وایی اوپلار وغیره یی منع کوی نوڅه کول پکاردی؟ سوال: (۷۲۷) دزید واده دبکر دلور سره وسو خودزید استاذ نارضا دی ځکه چی زید مشهور عالم دی اوبکر جاهل دی، زید غواړی چی په څه طریقه سره استاذراضی کړم خو استاذ وایی چی ترڅو خپلی ښځی ته طلاق ورنه کړی نوزه نه راضی کیږم په دی صورت کی زید لره څه کول په کاردی اودزید پلار اواکا دطلاق څخه مانع دی؟

جواب: دزید پرذمه په دی صورت کی خپلی ښځی ته طلاق ورکول ضروری نه دی او خاصکر چی دده پلار اواکا منع کوی نوطلاق نه دی ورکول په کار او داستاذ ناراضتیا که بی دڅه شرعی وجه وی نو ددی دی هیڅ پرواه نه کوی چی څومره یی خپل کاردی هغه دی وکړی یعنی دده څخه دی معافی وغواړی اوقصور دی معاف کړی اوکه دی نه معاف کوی نوګناه پرده ده اوزید به خلاص وی. فقط

آیا یو صورت سته چی خاوند په ژبه طلاق ونه وایی اوطلاق واقع سی: **سوال**: (۷۲۸) هغه کم صورتونه دی چی خاوند په ژبه سره طلاق ورنه کړی هغه په خپله طلاقه سی؟

جواب: هغه صورت دادی چی ښځه یاخاوند معاذالله مرتد سی نو وروسته دارتداد څخه په خپله تفریق کیږی. والتفصیل فی کتب الفقه (یاکه خاوند طلاق ولیکی نوهم به طلاق واقع سی. ظفیر)

په طلاق رجعی او بائن کی څه فرق دی اوحلاله کله کیږی؟ سوال: (۷۲۹) دحلالی ضرورت کله وی ددرو طلاقِ بائن څخه اوکه دیوه طلاق څخه وروسته هم دحلالی ضرورت سته، اوپه طلاق رجعی اوپه بائن کی څه فرق دی؟

جواب: دحلالی ضرورت په درو طلاقوکی وی اوپه یوه یادوو طلاق بائن کی دحلالی ضرورت نسته اودنکاح دتازه کولو ضرورت سته اوپه طلاق بائن کی رجوع صحیح نه ده

[1] الدرالمختار علی هامش ردالمحتار فصل فی المحرمات ج۲ ص۴۰۲. ط. س. ج۳ ص۵۰. ظفیر

که څه هم یووی اودری طلاقه رجعی نه کیږی اوتردوو طلاقو پوری رجعی وی اوکه دری سی نوبائنه مغلظه کیږی. کما فی کتب الفقه ([1]).

په مهر معجل باندی نکاح وسوه اومهر ادا نه سو نو تفریق به وی اوکه نه؟ سوال: (۷۷۰) دهندی نکاح په ولایت دولی په تقرر دمهر پنځوس زره روپی معجل په حالت دنابالغی کی دزید سره وسوه اته کاله وسوه چی واده لانه دی سوی اوزید لا تراوسه دواده دپاره څه مینه نه ده ښکاره کړی که دمهر په اداء کولو کی زید څه عذر وکړی نوجبراً به تفریق وی اوکه نه؟

جواب: په درمختار کی دی چی: ولایفرق بینهما لعجزه بانواعها الثلاثة ولابعدم ایفائه لوغائبًا حقها الخ ([2])، ددی روایت څخه معلومه سوه چی که خاوند دښځی حقوق دمهر وغیره ادا نه کړی نوطلاق نه واقع کیږی اوتفریق نه سی کیدی خو چی کله مهر معجل مقرر سو، اوخاوند لاتراوسه ادائیگی نه ده کړی نوښځه خپل ځان دخاوند څخه بندولی سی، اوکه مهر موجل مقرر سوی وی نوښځه بیا داهم نسی کولی په هرحال بغیر دطلاقو دخاوند څخه دجدایی هیڅ صورت نسته. کذا فی الدرالمختار والشامی والعالمگیری.

دطلاقو څخه وروسته ښځه دبل سره نکاح کولی سی: سوال: (۷۷۱) خلاصه دسوال داده چی زید خپله ښځه هنده پرینښوله اویوځای ولاړی دزید مور اوپلار هنده ددی دمور اوپلار کره ولیږله څوکاله وروسته زیدراغی نودزید خواښی دی پوه کړی خوده ونه منله نودزید خواښی ورته وویل چی که ته ددی خرچه نه سی ورکولی نوطلاق ورکړه، زید وویل چی زما دخوا څخه طلاق دی چی دهغه شاهد دوی ښځی موجودي دی، نوهنده دوهمه نکاح کولی سی اوکه نه؟

جواب: په دی صورت کی چی کله هندی ته یقین دی چی دیته یی طلاق ورکړی اوولاړی نو دهندی دوهمه نکاح دبل سړی سره جائز ده. کذا فی الدرالمختار ([3]).

یوی پرده داری ته پردی سړی ورسی نو ددی نکاح ماتیږی اوکه نه؟ سوال: (۷۷۲) چی یوی پرده داری ښځی ته پردی سړی ورسی نو دانکاح پاته ده اوکه نه؟

جواب: ددی نکاح نه ماتیږی او دا انجلی دخپل خاوند په نکاح کی ده (خو داجنبی سړی

([1]) وینکح مبائنة بما دون الثلاث فی العدة وبعدها بالاجماع الخ لاینکح مطلقه من نکاح صحیح نافذیها ای بالثلاث حتی یطاها غیر الخ (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب الرجعة ج۲ ص۷۳۹ – ۷۴۰، ط. س. ج۳ ص۴۰۹). ظفیر

([2]) الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب النفقة ج۲ ص۹۰۳. ط. س. ج۳ ص ۵۹۰. ظفیر

([3]) لوقالت امراته لرجل طلقنی زوجی وانقضت عدتی لاباس ان ینکحها (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب العدة ج۲ ص ۷۴۷. ط. س. ج۳ ص ۵۲۹). ظفیر

راتلل دې ته ګناه ده. ظفير) ([1])

ښځه اوسيدل نه غواړي اوخاوندطلاق نه ورکوي نوڅه صورت بايد وسي؟ سوال: (۷۷۳) ښځه دخاوند څخه راضي نه ده او دطلاق طلب کوي خوخاوند انکارکوي نوددې دعوې فيصله بايد څنګه وسي؟

جواب: بې دخاوند دطلاق ورکولو يا بغير دخلع کولو څخه تفريق نه سي کيدى اوجرګې ته دطلاقو اختيار نسته خوکه خاوند اوښځه دواړه جرګې ته فيصله حواله کړي اودغه جرګه خلع وکړي نوطلاق به واقع وي.

دطلاقو پردعوٰی باندې دمهر په لکولو سره به طلاق نه واقع کيږي: سوال: (۷۷۳) يوې ښځې دخاوند سره جګړه وکړه اوډپلار کره راغله، پلار يې په عدالت کې داښکاره کړه چې زما لور ته يې طلاق ورکړيدى ددى وجه څخه ښځه دخپل مهر دعوٰی کوي، په ډګرى اخيستو سره خاوند دمهر ورکولو وعده وکړه نو دمهر په اقرار کولو سره طلاق واقع سو اوکه نه؟

جواب: دمهر ورکولو په اقرار سره طلاق نه کيږي. فقط

دښځې په څه ويلو سره طلاق نه کيږي: سوال: (۷۷۵) يوې ښځې خپل خاوند ته په حالت دغصه کې دا الفاظ وويل چې ته دنن څخه زما سکه ورور يې ته نه زما خاوند يې اونه زه ستا ښځه زما اوستا هيڅ څه واسطه نسته، نو په دې صورت کې شرعًا څه حکم دى؟

جواب: دښځې په دې ويلو سره هيڅ هم ونه سول اوپه نکاح کې هيڅ خلل رانغى اوپه دې کې څه کفاره هم نسته، اودواړه ښځه اوخاوند دې خوښځه دې بيا داسې الفاظ نه وايي.

چې پرکمه ښځه دزنا شبهه وي نو دې ته طلاق ورکول په کاردي اوکه نه؟ سوال: (۷۷۶) دزيد ګاونډيانو زيد ته وويل چې ستا په غيبوبت کې ستا ښځه دخپل ليور عمر سره په زنا کولو ليدل سويده، مخامخ يې دعمر سره هم صفا صفا دسترګو ليدلې تعلق بيان سو خوپه وخت دتيريدو دشهادت مذکوره دواړو نه اقرار وکې اونه انکار، وروسته دتلو دشاهدانو څخه دواړو داشاهدان بانيان دشر او دفساد وګرځول او دزنا څخه يې انکار وکې خوزيد ته ددواړو دطرزِ عمل اودخبرو څخه ثبوت دزنا وسو، ددې وجه څخه ده غوښتل چې ښځې ته طلاق ورکړي خوزيد موافق دمسئلې شرعي ددواړو دښکاره اقرار منتظر وو اوس داووکالو څخه وروسته په وجه دمبتلاکيدو په مهلك مرض کې اودژوند څخه دنا اميده کيدو له امله په خپله يې دخپل قول ترديد وکې او دمذکوره تعلق دثبوت اقراريې وکې خوښځه صفا دزنا اقرارنه کوي نوشرعًا دچاقول معتبر دى؟ اوداښځه شرعًا

([1]) لايجب على الزوج تطليق الفاجرة ولا عليها تسريح الفاجر الا ان يخافا ان لايقيما حدود الله فلاباس ان يتفرق (الدرالمختار على هامش ردالمحتار ج۲ ص۴۰۲. ط. س. ج۳ ص۵۰). ظفير

قابله دطلاقو ده اوکه نه؟

جواب: په دی صورت کی پرمذکوره ښځي زنا ثابته نه ده ځکه چی ښکاره ده چی کم دسترګو لیدلی شهادت دزنا دپاره په کم کیفیت سره ضروری دی هغه په دی صورت کی نه دی موجود اوښځه په خپله منکره ده او دعمر اقرار دزنا پر دی ښځی حجت نسی کیدی، او ددی څخه علاوه پرخاوند باندی دزنا کاری ښځی ته طلاق ورکول هم ضروری نه دی په درمختار کی دی چی: ولایجب علی الزوج تطلیق الفاجرة الخ (١)، باقی که دیته زید طلاق ورکول غواړی نو ده ته اختیار دی. فقط

چی ښځه دطلاقو دعوٰی وکړی اوخاوند انکار نو دچا قول به منل کیږی؟ سوال: (۷۷۷) دزید دښځی هندی بیان دی چی ماته زما خاوند دری طلاقه راکړی دی اوزید دطلاق ورکولو څخه انکار کوی نوپه دی صورت کی دچا قول معتبر دی اودزوجیت تعلق قائم دی اوکه نه؟

جواب: خاوند که دطلاقو څخه انکار کوی اودښځی سره دوه معتبر شاهدان نسته نو دخاوند قول به معتبر وی اوطلاق به ثابت نه وی اودزوجیت تعلق دهندی دزید سره قائم دی. هکذا فی الدرالمختار (٢).

دطلاق وکیل یی جوړ کی څه حکم دی؟ سوال: (۷۷۸) زید دخپلی ډلی سره یومولوی عمر نامی ته راغی اومولوی صاحب ته متوجه سو او وی ویل چی که مافلانی کار وکی، نو مولوی صاحب زما دښځی ته دطلاقو وکیل ته یی، حال دادی چی زید دمولوی صاحب نوم وانه خیستی صرف ده ته یی سترګی وروا ړولی نوپه دی ویلو سره مولوی صاحب وکیل سو اوکه نه؟ چی په دی مجلس کی دعمر څخه ماسوا بل څوک مولوی هم نسته؟

جواب: په دی صورت کی مولوی صاحب وکیل سو (٣). فقط

صرف دطلاقو وکیل یی جوړ کړی وو خو وکیل دری طلاقه ورکړل: سوال: (۷۷۹) وکیل دشرط په پوره کیدو باندی دزید ښځی ته دری طلاقه ورکړل اومغلظه یی کړه اوزید صرف لفظ دطلاقو ویلی وو دیوه کال څخه وروسته زیدوویل چی مامولوی صاحب دیوه طلاق وکیل جوړ کړی وو، نوپه دی صورت کی څه حکم دی؟

---

(١) الدرالمختار علی هامش ردالمحتار فصل فی المحرمات ج۲ ص ۴۰۲. ط. س. ج۳ ص ۵۰. ظفیر

(٢) ویسأل القاضی المدعی علیه عن الدعوی فیقول انه ادعی علیك کذا فما ذا تقول الخ فان اقر فبها او انکر فبرهن المدعی قضی علیه بلا طلب المدعی والا یبرهن خلفه الحاکم بعد طلبه (الدرالمختار علی هامش رد المحتار کتاب الدعوی ج۴ ص۵۸۵. ط. س. ج۳ ص۵۷۷). ظفیر

(٣) واذا قال الرجل طلق امراتی فله ان یطلقها فی المجلس وبعده وله ان یرجع لانه توکیل وانه استعانة فلا یلزم ولا یقتصر علی المجاس (هدایه باب تفویض الطلاق فصل فی المشیة ج۲ ص ۳۲۰). ظفیر

جواب: په دی صورت کی دخاوند قول معتبر دی اوښکاره الفاظ هم دخاوند دیوه طلاق رجعی مقتضی دی (۱). فقط

خاوند وایی چی صرف دیو طلاق وکیل می جوړکړی وو نوپه دری ورکولو باندی وکیل معزول سو اوکه نه؟ **سوال**: (۷۸۰) زید وایی چی ما مولوی صاحب دیوطلاق وکیل کړی وو، او مولوی صاحب دری طلاقه ورکړل نوده زما مخالفت وکی او دموکل په مخالفت سره وکیل معزول کیږی نو داخبره صحیح ده اوکه نه؟ اودطلاقو څه حکم دی؟ آیا لغوه دی اوکه نه؟

جواب: داصحیح ده چی کله دخاوند نیت ددرو طلاقو نه وو نووکیل ته اختیار ددرو طلاقونو دورکولو نه وو، په دی کی دی معزول دی اودری طلاقه به واقع نه (۲) وی.

دخاوند حَکَم جوړول: **سوال**: (۷۸۱) دزید مولوی صاحب ته راتلل دحَکَم جوړولو حُکم لری اوکه نه؟

جواب: مولوی صاحب ده وکیل جوړکړی دی، اودحَکَم جوړولو داصورت نه دی.

دیو عبارت مطلب: **سوال**: (۷۸۲) ددرمختار ددی عبارت، الاصل فی الوکالة الخصوص، څه مطلب دی؟

جواب: مطلب ددی دادی چی موکل په توکیل کی دعوٰی دخصوصیت وکړی چی مافلانی په خاص امر کی وکیل کړی وو او وکیل دعوٰی دعموم وکړی نوقول دموکل معتبر دی ځکه چی په توکیل کی هم دا اصل دی لکه چی په درمختار کی یی دا تفریع بیان کړیده، فان باع الوکیل نسیئةً فقال امرتك بنقله وقال اطلقت صدق الآمر (۳). فقط

دعدالت په ذریعه طلاق اخیستل څنګه دی؟ **سوال**: (۷۸۳) خلاصه دسوال داده چی دهندی اوددی دخاوند په مینځ کی ناموافقت دی که په ذریعه دعدالت جبراً هندی ته ددی دخاوند څخه طلاق واخیستل سی نوجائز دی اوکه نه؟

جواب: په درمختار کی دی چی عند الحنفیة که دخاوند څخه په زبردستی باندی طلاق واخیستل سی نو طلاق واقع کیږی نوکه خاوند وبیرول سی او مجبوره سی چی طلاق

---

(۱) صریحه ویستعمل الا فیه کطلقتك الخ یقع بها الخ واحدة رجعیة وان نوی خلافها (الدرالمختار علی هامش رد المحتار باب الصریح ج۲ ص۵۹۲. ط. س. ج۳ ص۲۴۷). ظفیر

(۲) لو وکله بشراء شيء بعینه غیر الموکل لا یشتریه لنفسه عند غیبة حیث لم یکن مخالفا فلواشتراه بغیر النقود اوبخلاف ما سمی الموکل الخ ینعزل فی ضمن المخالفة عینی (ایضا باب الوکالة والشراء ج۴ ص ۵۲۰. ط. س. ج۳ ص ۵۱۷). ظفیر

(۳) ویقع طلاق کل زوج بالغ عاقل الخ ولوعبد اومکرها فان طلاقه صحیح لاقراره بالطلاق (درمختار) فان طلاقه صحیح ای طلاق المکره (ردالمحتار کتاب الطلاق ج۲ ص ۵۷۹. ط. س. ج۳ ص ۲۳۵). ظفیر

واچوی، یاحاکم ده ته حکم وکړی چی طلاق ورکړه اوخاوند طلاق ورکړی نوطلاق واقع کیږی [۱]، اوچی دښځی اودخاوند په مینځ کی ناموافقت دی اوخاوند ښځی ته ضرر ورکوی نوپه طلاق اخیستو کی څه ګناه نسته ځکه چی دخاوند په خپله دافرض دی چی دی دی دخپلی ښځی سره ښه سلوك وساتی نوده ته لازم دی چی طلاق ورکړی، کما قال الله تعالی فامساك بالمعروف اوتسریح باحسان [۲]. فقط

دطلاق بائن څخه وروسته دوباره نکاح کیدی سی: **سوال:** (۷۸۴) یوسړی چی دهغه نوم سلطان دی یوکال وسو چی یو تحریر یی دښځی په نوم رالیږلی دی چی په هغه کی دطلاق بائن الفاظ تحریر دی، زه تا دځان سره ساتل نه غواړم نوددی وجه څخه تاته طلاق درکوم، اوتاته اختیاردی چی څه کوی هغه کوه زه به ستا مهر درکړم، اوس سلطان ددی ښځی سره نکاح کول غواړی، کولی یې سی اوکه نه؟

جواب: موافق دتحریر دسلطان پرښځی طلاق بائن واقع سو، نوددی وجه څخه وروسته نوی نکاح دسلطان او ددی کیدی سی [۳].

چی څوک په ښځی زنا کوی دده څه حکم دی؟ **سوال:** (۷۸۵) دیو سړی ښځه زناکاره ده اودا سړی دا دزنا څخه بندوی تردی چی اوس حالت دادی چی داښځه دخاوند په مخکی خپل آشنایان کورته راولی اوخاوند یی نه منع کوی اونه طلاق ورکوی، نودداسی سړی اودښځی څه حکم دی؟

جواب: په داسی حالت کی دي دی سړی ته دطلاق ورکولو وویل سی او که دی یی اوس هم نه منی نوبیا مسلمانانو لره دداسی بی حیا ښځی اوسړی سره تعلقات ختمول په کار دی، دلته دکافرانو دتسلط دوجه څخه ددی څخه پرته بله کمه سزا کیدی سی چی تمام غیرت مند مسلمانان عملا دده څخه دبی زاری اظهار وکړی اوپه حق دوقار دشریعت او دغیرت داسلام دده سره هیڅ قسمه تعلقات ونه ساتی، اوچی کمو خلګو ته علم دی او دوی بیاهم دده سره تعلقات ساتی نو دوی هم ګنهګار دی.

دشرابو په کارو بار سره ښځه نه طلاقیږی: **سوال:** (۷۸۶) یوسړی دشرابو ټیکه واخیسته څو میاشتی یېې داکار وکی، او اوس یی توبه وکښله، بعض عالمان وایي چی دده ښځه طلاقه سوه او دوباره دی نکاح وکړی نو داشرعا صحیح دی اوکه نه؟

---

[۱] ایضاً . ظفیر

[۲] سورة البقرة : رکوع : ۲۸. ظفیر

[۳] وینکح مبانته بما دون الثلاث فی العدة وبعدها بالاجماع (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب الرجعة ج۲ ص ۷۳۸. ط. س. ج۳ ص ۴۰۹). ظفیر

جواب: دده ښځه دنکاح څخه وتلی نه ده، او ددوباره نکاح کولو ضرورت نسته اوچی کله دی سړی دمذکوره معصیت څخه توبه وکښله نو په حکم دحدیث پاك چی: التائب من الذنب کمن لا ذنب له (۱)، دده ګناه معاف سوه. فقط

حامله ښځه وایي چی ماته طلاق سویدی نوآیا دحمل څخه وروسته ددی بله نکاح جائز ده؟

سوال: (۷۸۷) امرأة بالغة یتحلف بتطلیق زوجها ولکن لیس معها شاهد وهی حاملة فنکاح الثانی بعد الوضع جائز ام لا ؟

جواب: قال فی الدرالمختار وکذا لوقالت امرأة لرجل طلقنی زوجی وانقضت عدتی لاباس ان ینکحها الخ، وفی الشامی قوله لاباس ان ینکحها فی الخانیة قالت ارتد زوجی بعد النکاح وسعه ان یعتمد علی خبرها ویتزوجها ص۲۱۲ جلد ثانی شامی (۲)، فوضح من هذه العبارة ان نکاحها الثانی بعد الوضع معتمدا علی قوله جائز فی الشرع. فقط

ددوو ښځو والا یوی ته بی قصوره طلاق ورکړی اودخپل ورور سره یی نکاح کول غواړی نوڅه حکم دی؟ **سوال**: (۷۸۸) دیوسړی دوی ښځی دی دی غواړی چی یوی ته طلاق ورکړی اوخپل ورور ته یی په نکاح کړی اوس دا ووایاست چی مهر ورکول هم پرده واجب دی او که نه په دوهم؟ اوآیابی قصوره طلاق به ورکول ثابت وی اودانکاح به صحیح وی که نه؟

جواب: قال فی الدرالمختار وایقاعه مباح عند العامة الخ (۳)، اوواقع کول دطلاقو مباح دی داکثرو په نزد اودطلاق ورکولو اودعدی تیریدلو څخه وروسته دخاوند دورور سره ددی نکاح کول صحیح دی اوکه داښځه مدخوله وی نوپوره مهر به خاوند ورته اداء کوی (۴).

په جبر طلاق اخیستل اودطلاق څخه مخکی ښځه خپل کور ته راوستل څنګه دی؟ **سوال**: (۷۸۹) په یوسړی باندی جبر کول په ده ښځی ته طلاق اچول اودا مطلقه دطلاقو څخه مخکی په خپل کور کی بندول ، ددې سړی دپاره څه حکم دی؟

جواب: داحرام دی اوخلوة بالاجنبیة حرام دی اومرتکب ددی فاسق دی (۵). فقط

ښځه وایي چی طلاق یی راکړیدی اوخاوند انکارکوی اوشاهد موجوددی:**سوال**:(۷۹۰) دزید

---

(۱) مشکوٰة شریف. ظفیر

(۲) ردالمحتار باب العدة ج۲ ص ۸۴۷. ط. س. ج۳ ص ۵۲۹. ظفیر

(۳) الدرالمختار علی هامش ردالمحتار کتاب الطلاق ج۲ ص ۵۷۱. ط. س. ج۳ ص ۲۴۷. ظفیر

(۴) ومن سمی مهرًا عشر فما زاد فعلیه المسمٰی ان دخل بها اومات عنها لانه بالدخول یتحقق تسلیم المبدل وبه یتاکد البدل (هدایه باب المهر ج۲ ص ۳۰۴). ظفیر

(۵) قال رسول الله ﷺ ایاکم والدخول علی النساء فقال رجل ارایت الحمو قال الحمو الموت، متفق علیه وقال ﷺ لایخلون رجل بامراة الا کان ثالثهما الشیطان، رواه الترمذی (مشکوة کتاب النکاح). ظفیر

نکاح دخالدی سره وسوه خو اوس مذکوره خالده اوددی مور او پلار دابیان کوی چی زید مذکوره خالدی ته طلاق ورکړیدی اوشاهد چی کم یې طلاقنامه کی لیکلی ده هغه پیش کړل چی دهغوی شاهدی سره دنښانونو درج ده اوزید اودده مور چی په دی طلاقنامه کی شاهده ده دابیان کوی، نه موږ طلاق ورکړی دی اونه موږ طلاقنامه لیکلی ده خو ددی خبری اقرار کوی چی دګوتو نښانې ددوی دی چی ددوی څخه په دهوکه لګول سویدی دطلاقنامې پرحاشیی په لیکل سوو پنځو شاهدانو کی دری شاهدان په دي وخت حاضر وه حافظ محمد شفیع صاحب پیش امام مسجد اومحمد علی خیاط او کلثوم مور دزید، دکلثوم یادونه لوږ وسوه، ددی دواړو شاهدانو بیان دی چی زید زموږ دخلګو په مخکی دډیر پوهولو سره سره خالدی ته طلاق ورکی یعنی بائن طلاق یی ورکی اودا طلاق نامه یی ولیکله اوزموږ څخه یی دستخط واخیستی اوحواله یی کړه، دادواړه شاهدان ددی ځای اکثره علماء غیر معتبر تصور کوی، ځکه چی حافظ محمد شفیع شل کاله مخکی قید سوی وو، خو اوس دده حالت ښه دی اومحمد علی په بازار کی ناست وی درزی توب کوی که څه هم متشرع سړی دی، اویوشاهد زبانی هم شاهدی ادا کوی خو په وخت دشاهدی دده ږیره دشرعی اندازې څخه کوچنی وه، دا پوښتنې لرو:

۱. اول داچی داطلاق واقع سو اوکه نه؟
۲. داچی داشاهدان شرعًا معتبر دی اوکه نه؟
۳. داچی زید خالده په قبضه کی اخیستی سی اوکه نه؟
۴. داچی دزید دپاره تجدید دنکاح ضروری دی اوکه نه؟

جواب: بائن طلاق په دی صورت کی شرعًا ثابت دی، دوه سړی عادل لمونځ ګذاره په دی باره کی کافی دی ([1])، ددریم شاهد ږیره که غیر مشروع ده نو دده شاهدی معتبره نه ده خو دیوه شاهد سزا کیدل اوبیا دتوبی څخه وروسته نیك کیدل دارکم په بازار کی دکان ددرزیتوب کول دشاهدی دپاره مانع نه دی. کذا فی کتب الفقه ([2])، نوچی کله داثابته سوه چی بائن طلاق په دی صورت کی پرخالده باندی واقع سو نو دزید دعوی ددخول دزوجیت باطله ده اوکه ښځه راضی وی نونکاح تازه کولی سی. فقط

([1]) ونصابها لیغرها من الحقوق سواء کان الحق مالا اوغیره کنکاح وطلاق ووکالة الخ رجلان الخ اورجل وامرتان الخ (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار کتاب الشهادات ج۴ ص ۵۱۵. ط. س. ج۳ ص ۴۷۰). ظفیر

([2]) والفاسق اذاتاب لاتقبل شهادته مالم یمض علیه زمان یظهر علیه اثر التوبة (ردالمحتار باب القبول وعدمه ج۴ ص۵۲۲. ط. س. ج۳ ص۴۷۳) ان صاحب الصناعة الدینة کازبال والحائك مقبول الشهادة واذاکان عدالا فی الصحیح (ایضا ج۴ ص ۵۲۴. ج۵ ص ۴۷۵). ظفیر

خاوند که دطلاقو اقرار وکړی نوطلاق کیږي: **سوال**: (۷۹۱) یوی ښځی بیان وکی چی زما خاوند ماته زبانی طلاق راکړیدی اودوه دری مسلمانان وایي چی دی سړی زموږ په مخکی ښځی ته دطلاق ورکولو اقرار کړیدی اوښځی چی کله دخاوند څخه پوښتنه وکړه، نوده دطلاقو څخه انکار وکی نو په دی صورت کی که ښځه دیوجومات دامام سره دعدی څخه وروسته نکاح وکړی نو په امام پسی لمونځ جائز دی اوکه نه؟

جواب: دطلاقو داقرار په کولو سره هم طلاق کیږی نوکه دوه مسلمانان لمونځ گذاره پرهیزگاره شاهدی داقرار دطلاقو کوی نوښځه شرعًا طلاقه سوه اودعدی څخه وروسته دبل سړی سره نکاح کولی سی، اوانکار دخاوند معتبر نه دی، ولوقیل له طلقت امراتك فقال نعم اوبلی بالهجاء طلقت الخ (درمختار) ([1]) وفیه ایضا ولونکحها قبل امس وقع الان لان الانشآء فی الماضی انشاء فی الحال الخ، نوچی کله طلاق واقع سو نو وروسته دعدی څخه دابښځه چی دچا سره هم نکاح وکړی صحیح ده په مذکور امام هیڅ الزام نسته اوپه ده پسی لمونځ صحیح دی.

په مسئوله صورت کی طلاق سوی دی اوکه نه؟ **سوال**: (۷۹۲) زید خپله لور سلمه چی دشپږو اوو میاشتو وه بکر ته په نکاح کړه ددی څخه وروسته دزید او دده دمنکوحی په مینځ کی جگړه راغله چی دهغه په بناء دزید منکوحی خپله نابالغه لور سلمه واخیسته او دمور او دپلار کره ولاړه چی شپاړس اولس کاله هلته اوسیدله چی کله سلمه بالغه سوه نوبکر دسلمه نیکه ته دواده درخواست وکی نودوی دنکاح څخه انکار وکی نوبکر په ذریعه دعدالت کاروایي وکړه اودنکاح په ثبوت کی یی شهادتونه راوړل اوزید هم نکاح کول ومنل چی په دی باندي مجسټریټ فیصله په حق دبکر وکړه بیا سلمه اپیل وکی په هغه کي بکر داوویل چی که دسلمه نیکه حلفیه څه ولیکی نوزه به په هغه کاربند یم دسلمه نیکه قرآنکریم لوړکی اوبیان یی وکی چی دبکر اودسلمه په مابین کی هیڅ نکاح نسته ، په دی باندی عدالت فیصله وکړه اوس به آیا دبکر په دی کار بندکیدو لفظ طلاق کنایی وی اوکه نه؟ او سلمه اوس نکاح کولی سی اوکه نه؟

جواب: دسلمه نابالغی نکاح چی کمه ددی پلار کړی وه صحیح ده، اودبکر په دی لفظ دکار بندکیدو سره طلاق نه کیږی، لانه لیس من الفاظ صریح الطلاق ولا من کنایاته، قال فی الشامی واراد بما اللفظ اوما یقوم مقامه من الکنایة المستبینة والاشارة المفهومة (الی ان قال) لان رکن الطلاق اللفظ اوما یقوم مقامه الخ ([2]). فقط

([1]) الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب الصریح ج۲ ص ۵۹۲. ط. س. ج۳ ص ۲۴۹. ظفیر
([2]) ردالمحتار باب الصریح ج۲ ص۵۹۰. ط. س. ج۳ ص۲۴۷. ظفیر

دطلاق معنٰی نه پیژني خو ددې لفظ دويلو شاهدې ادا کوي نوپه دې سره به طلاق ثابت وي:

سوال: (۷۹۳) آيا که یوشاهد دطلاقو تعريف نه سي بيان کولی او ووايي چې زه دانه پيژنم چې طلاق څه ته وايي خو داشاهد دزيد ددې قول شاهدي ادا کړي چې زما په مخکې زيد هندې ته دري واره دا وويل چې ما تاته طلاق درکې نو دوقوع دطلاقو دپاره داسې شاهدي به کافي وي او که نه؟ بيانات دشاهدانو هريوه لکه قيدارخان او تولاخان چې قريبان دي دښځې، استفتاء کوونکې دې؟

جواب: داسې شاهدي دثبوت دطلاقو دپاره کافي ده اوطلاق به واقع وي. فقط

دکوروالي څخه دنا اميدي په وخت طلاق نه ورکول څنګه دې؟ سوال: (۷۹۴) دښځې او خاوند په مينځ کې خفګان دزړه دې دکوروالي اميد ختم سويدی، ښځه طلاق غواړي خاوند طلاق نه ورکوي نودده ګناه کيږي او که نه؟

جواب: په داسې صورت کې خاوند په طلاق نه ورکولو سره ګنهګاريږي ([1]). فقط

ديوازي والی طلاق واقع کيږي: سوال: (۷۹۵) زيد خپلې ښځې ته په کوټه کې يوازې طلاق ورکې اووی ويل زما سره دې څه تعلق پاته نه سو بيا وروسته دخلګو په مخکې يې ددې ذکر وکې نوطلاق کله واقع سو اوعده به دکله څخه شمار وي؟

جواب: طلاق هم هغه وخت واقع سو چې کم وخت زيد په يوازي والی کې طلاق ورکې اوعده به هم ددغه وخت څخه شمار وي. فقط

دنابالغ خاوند ښځه بل واده نه سي کولی: سوال: (۷۹۶) دزيد واده دده اکا په کوچني والی کې کړې وو دزيد منکوحه ديوکال راهيسې بالغه ده دزيد دبالغ کيدو اوس هم تر دوه دري کاله پورې څه اميد نسته دزيد اکا يې نه ازادوي بالغه منکوحه بغير دخاوند اودده داکا دازادولو اوطلاق څخه دوهمه نکاح کولی سی اوکه نه؟

جواب: که دزيد اکا دزيد دطرفه طلاق ورکړی هم، نو دا معتبرنه دې طلاق به واقع نه وي اونه دزيد نابالغه طلاق واقع کيدی سی نو په دې صورت کې بالغه منکوحه نکاح ثاني نه سي کولی کما ورد في الحديث: الطلاق لمن اخذ الساق ([2]). فقط

نکاح وسوه ليکن خاوند نه ډوډې اوخرچه ورکړه او نه يې حقوق دخاوند والی ادا کړل نوڅه حکم دې؟ سوال: (۷۹۷) ديوی انجلی نکاح يې ديو سړي سره وکړه ليکن اوس انجلی دمور اودپلار پرکور ده، خاوند هغې ته نه نان او نفقه ورکوی اونه صحبت سويدی نودنه

([1]) ويجب لو فات الامساك بالمعروف (الدرالمختار على هامش ردالمحتار كتاب الطلاق ج۲ ص ۸۷۲. ط. س. ج۳ ص ۲۲۹). ظفير

([2]) ابن ماجه كتاب الطلاق. ظفير

خلوت اوصحبت سره نکاح ماته سوه اوکه نه؟ اودوهمه نکاح دهغې انجلی صحیح ده اوکه نه؟

جواب: مخکی نکاح دهغې انجلی صحیح سوه، او دخلوت یا صحبت په نه کیدلو سره نکاح نه ماتیږی ترکمه پوری چی داولنی خاوند څخه طلاق وانه خلی اوعده تیره نه سي نو دوهمه نکاح صحیح نه ده. فقط

داقسم خوړل که دوهمه نکاح وکړم نوهغه حرامه ده: **سوال**: (۷۹۸) زید قسم واخستی چی که چیري ما دهندی څخه ماسوا بله نکاح وکړه نوهغه بی بی پرما حرامه ده اوس که چیري زید دوهمه نکاح وکړی نوڅه حکم دی؟

جواب: پردوهمه منکوحه به طلاق واقع سی (۱).

دا ویل چی ددنیا تمامی ښځی زما میندی دی: **سوال**: (۷۹۹) زید وویل چی ددنیا ټولی ښځی زما میندی (مورانی) دی نو اوس زید دیوې ښځی سره نکاح کولی سی اوکه نه؟

جواب: داقول خطا دی دکمی ښځی سره چی وغواړی نونکاح کولی سی. فقط

دمطلقی سره جماع: **سوال**: (۸۰۰) زید دطلاقی سوی ښځی سره جماع کوی اوزید دجومات امام دی نو په ده پسي لمونځ کول درست دی اوکه نه؟

جواب: داسی سړی امام جوړول حرام دی اوپه ده پسی لمونځ کول مکروه تحریمی دی (۲).

په حلاله کی دجماع شرط والی: **سوال**: (۸۰۱) بغیر ددوهم خاوند دجماع څخه، مطلقه داول خاوند دپاره حلالیدلی سی اوکه نه؟

جواب: بغیرددوهم خاوند دجماع څخه مطلقه ثلاثه داول خاونددپاره نسی حلالیدلی. (۳)

دا ویل چی که فلانی کار وکړم نو زما پربی بی باندی طلاق: **سوال**: (۸۰۲) زید قسم واخستی چی که فلانی کار وکړم نو زما پربی بی باندی دری طلاقه دی اوس زید هغه کار وکی نو دده پر بی بی باندی طلاق واقع سو اوکه نه؟

جواب: په دی صورت کی دری طلاقه دده پرښځی باندی واقع سوه (۴).

دخاوندڅخه دا اقرار نامه لیکل چی بغیراجازته به بله نکاح نه کومه: **سوال**: (۸۰۳) په بنګال

---

(۱) وتنحل الیمین بعد وجود الشرط مطلقا الخ (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب التعلیق ج۲ ص ۲۹۰. ط. س. ج۳ ص ۳۵۵). ظفیر

(۲) ویکره امامة عبد واعرابی وفاسق مختصر (درمختار باب الامامة ج۱ ص۵۵۹). ظفیر

(۳) وان کان الطلاق ثلاثا في الحرة او ثنتین في الامة لم تحل له حتی تنکح زوجا غیره نکاحا صحیحا ویدخل بها ثم یطلقها الخ هدایه ج۲ ص۳۷۸). ظفیر

(۴) وتنحل الیمین اذا وجد الشرط مرة (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب التعلیق ج۲ ص ۲۸۸. ط. س. ج۳ ص ۳۵۲). ظفیر

کې دستور دی چې دواده هلك ماسوا دمهر ځخه يوکاغذ په نوم دعهد نامه رجسټر سوی اخلی چې په دی کی څلور شرطونه وی چې يوشرط دادی چې بغير داجازته ځخه به دوهم واده نه کومه اوکه يې وکړم نوطلاق به وی اودا شرط د، فانکحوا ماطاب لکم من النسآء مثنٰی وثلث وربٰع، مخالف دی اوکه نه؟ اوبعض وخت داعهد نامه مخکی دعقد ځخه هم رجسټر کيږی ددې څه حکم دی؟

جواب: مسئلۀ مستفسره داده چې په، فانکحوا ماطاب لکم من النساء مثنٰی وثلث وربع (۱)، کی امر دوجوب لپاره نه دی بالاتفاق امر داباحت دی، چی که چيري وکړی نو جائز ده، نوکه چيري دانجلی اولياء ددی وجه ځخه چی ددوهمي نکاح کولو په صورت کی به خاوند عدل ونه کړی اوزموږ انجلی ته به تکليف ورسيږی، داسی شرط وکړی نوڅه حرج نه معلوميږی، خو داقاعده مقررول ښه نه دی يعنی واقع به سی اوقبل ازعقد چی ترڅو پوری تحقق دشرط اووقوع دجزاء ضروری دی يعنی طلاق به واقع سی، مخکی دعقد ځخه ترڅو پوری چی اضافت الی العقد پيدانه سی نواقرار هريو معتبريدی نه سی ليکن کم صورت چی په سوال کی درج دی، چی ددوهمی ښځی طلاق يې دبی بی اولنی دنکاح ځخه په وروسته باندی معلق کړيدی نو په دی کی قبل العقد اوبعد العقد برابر دی، که چيري وروسته دنکاح دبی بی اولنی هغه سړی ددوهمی ښځی سره نکاح وکړی نوپر دوهمی ښځی باندی طلاق واقع کيږی (۲).

دګونګی طلاق څنګه واقع کيږی؟ سوال: (۸۰۴) زيد ګونګی، ړوند اوکوڼ دی دده پلار په وخت دبلوغ دده کی دده عقد ديوی ښځی سره کړی وو ايجاب اوقبول دزيد دطرف ځخه دده پلار کړی وو، تريوی زمانی پوری په اشاره وغيره باندی پوهيدی، اوس د (۵) (۶) کالو ځخه راپه دی خوا په اشاره بالکل نه پوهيږی، دده ښځه جلا والی غواړی، دجلاوالی څه صورت دی؟

جواب: دګونګی طلاق په اشاره سره واقع کيږی يعنی کمه اشاره چی دطلاق اوجلا کيدو لپاره معهوده او معلومه وي که چيری دی دا اشاره وکړي نو طلاق واقع کيږی اوکه چيري ګونګی ليکل پيژنی نوپه ليکلو سره طلاق واقع کيږی په دی صورت کی په بلی اشاری سره طلاق نه واقع کيږی کذا فی الدرالمختار والشامی (۳) اوکه چيري نه څه

---

(۱) سورة النساء رکوع (۱). ظفير

(۲) وتنحل اليمين اذا وجد الشرط مرة (الدرالمختارعلی هامش ردالمحتار باب التعليق ج۲ ص۷۸۸. ج۳ ص۳۵۲). ظ

(۳) ويقع طلاق کل زوج بالغ عاقل الخ اواخرس باشارته المعهودة فانها تکون کعبارة الناطق استحسانا (در مختار) وفی التتارخانية من الينابيع ويقع طلاق الاخرس بالاشارة يريد به الخ فان کان الاخرس لايکتب وکان =

اشاره دطلاقو هغه کولی سی اونه څه لیکلی سی نو بیا دطلاق دواقع کیدلو څه صورت نسته اونکاح ثانی کول دده دبی بی بغیر دطلاق څخه صحیح نه دی. فقط

ښځه دطلاقو دعوٰی کوی اوخاوند انکار کوی نوڅه به کوی؟ سوال: (۸۰۵) که چیري ښځه مدعیه ددرو طلاقو وی اوخاوند دطلاقو څخه انکار کوی نودطلاقو دثبوت څه صورت کیدلی سی؟ آیا دشاهدانوپه شاهدی سره طلاق ثابتیږی اوکه نه؟ اودشاهدانوپه شاهدی سره دطلاقو ثبوت به څنګه وی؟ اودطلاقودثبوت دپاره تحریری طلاق کیدل خو ضروری نه دی؟ که چیري زبانی طلاق ورکړی نو دشریعت مطهره حکم څه دی؟ اوښځه دنان او نفقه دعوٰی کوی دا دعوٰی دطلاقو ددعوٰی سره منافی ده اوکه نه؟ بینوا وتؤجروا!

جواب: په کم صورت کی چی ښځه دعوٰی دطلاقو وکړی اوخاوند منکروی دطلاقو څخه نو دوه شاهدان عادلان مسلمانان یعنی لمونځ ګذار پرهیزګار دفسق اودفجور څخه دځان ژغورونکو په شاهدی سره طلاق ثابتیږی او داهم ضروری ده چی دواړه شاهدان به په خپل مینځ کی متفق اللفظ والمعنٰی شاهدی ادا کوی، دشاهدانو اختلاف دلته هم موجب درد دشهادت دی په درمختار کی دی: ولزم فی الکل الخ لفظ اشهد بقولها والعدالة لوجوبه الخ وایضا فی الدر المختار وکذا تجب مطابقة الشهادتین لفظا ومعنًی الخ (۱)، نوپه صورت مسئوله کی اوپه واقعه مذکوره کی که چیري دوه شاهدان مسلمانان عادلان بغیر داختلاف دبیان څخه دطلاقو شاهدی ادا کړی نوشرعًا طلاق ثابت دی اوپه صورت دثبوت ددری طلاقه، علاقه دنکاح، مابین الزوجین منقطع ده او واضحه دی وی چی دطلاقو دوقوع دپاره شرعًا دلیکلو ضرورت نسته خاوند که چیري زبانی طلاق ورکړی او په تحریر کی یی رانه ولی بیاهم طلاق واقع سو، اودښځی دنان اونفقه دعوٰی طلاقو ته مضر نه ده. فقط

دخاوند دشریعت دپابند نه کیدلو په وجه سره نکاح نه سی فسخه کیدلی: سوال: (۸۰۶) دیوی انجلی نکاح یی دیو سړی سره کړی وه مګر خاوند اودده کور والا بد ینه دی، یعنی دلمانځه روژی پابند نه دی اوداودس ماتی دپاره زنانه دځنګل طرف ته ځی نوپه داسی صورت کی ددی انجلی نکاح فسخه کیدی سی اوکه نه؟ اوانجلی دمهر پیداکولو مستحقه ده اوکه نه؟ اوکه چیري دمهر په عوض کی طلاق وغواړی نوجائز ده اوکه نه؟

جواب: نکاح وسوه اوس بغیر دطلاق ورکولو دخاوند څخــه نکاح نه سی فسخ کیدی که

= له اشارة تعرف فی طلاقه ونکاحه وشرائه وبیعه فهو جائز الخ (ردالمحتار کتاب الطلاق ج۲ ص ۵۸۴. ط. س. ج۳ ص ۲۳۵). ظفیر

(۱) الدرالمختار علی هامش ردالمحتار کتاب الشهادات ج۴ ص ۵۳۸، ۵۱۲. ط. س. ج۳ ص۴۲۲. ظفیر

چيري انجلى دخاوند او دده دكور والاوو دبى دينى په وجه هلته تلل نه غواړى نوځنګه چى كيدى سى دخاوند څخه دى طلاق واخلى نوكه چيري دمهر په عوض كى هغه طلاق وركړى نوداسى دى وكړى اوكه چيري صحبت سوى وى نومهر پوره واجب دى ([1]). فقط

دمعلق طلاق څخه دځان خلاصولو تدبير: **سوال**: (۸۰۷) زيد په حالت دغصه كى خپل پلار ته چى ضعيف العمردى دا وويل چى كه چيري ماستا خدمت په خپلو لاسونو سره وكى نو زما ښځى ته درى طلاقه، ليكن زيد دخپل دى قول څخه زيات پښيمانه دى اودپلار خدمت كول غواړى دزيد څخه ماسوا دده دپلار څوك دخدمت كولو نسته خو دخدمت كولو سره ددرو طلاقو خطره ده، نوكه چيري په خدمت كولو سره دده پربى بى باندى درى طلاقه نه واقع كيږى، نوزيد خدمت كولو ته تيار دى.

جواب: دپلار خدمت كول واجب اوضرورى دى، اوداهم ضرورى ده چى په خدمت كولو سره دده پرښځى درى طلاقه واقع كيږى نو ددرى طلاقه څخه دبچ كيدو تدبير داكيدى سى چى دې ښځى ته دى يوطلاق رجعى وركول سى اوعده يعنى درى حيض دى پوره كړى نوتردى پورى چى په عده پوره كيدو باندى هغه ښځه دخاوند دنكاح څخه خارجه اوجلا كيږى نوپه دى وخت كى دى دپلار خدمت وكړى قسم به پوره سى اودرى طلاقه به واقع نه سى ځكه چى دغه ښځه په دى وخت كى محل دطلاقو نه ده، بيا دى نكاح ددى ښځى سره ددوو شاهدانو په مخكى په لږ څه مهرسره مثلا لس درهمه يعنى دوى نيمى درى روپو سره وكړى په دى تدبير سره دحلالى ضرورت نسته اوبيا دى دهميشه دپاره دپلار خدمت كوى طلاق نه واقع كيږى ځكه چى هغه تعليق اوقسم په يووار كى ختميږى هكذا فى الدرالمختار وغيره ([2]).

بغير دعذر څخه په شاهدى كى تاخير: **سوال**: (۸۰۸) زيد هندى ته طلاق وركى ددى سره يى كوروالى كوى، دوه هلكان هم پيدا سوه، اوس دوه كسان شاهدى وركوى چى زيد هندى ته طلاق مغلظ وركړيدى په دى صورت كى څه حكم دى؟

جواب: دطلاقو شاهد كه چيري بلاعذره په شاهدى وركولو كى تاخير وكړى نوفاسق كيږى او ددوى په شاهدى سره طلاق نه ثابتيږى ([3]). فقط

* * *

([1]) ومن سمى مهرا عشرة فما زاد فعليه المسمٰى ان دخل بها اومات عنها (هدايه ج۲ ص ۳۰۴). ظفير

([2]) وتنحل اذا وجدالشرط مرة (الدرالمختار على هامش ردالمحتار باب التعليق ج۲ ص۲۸۸. ط. س. ج۳ ص۳۵۲). ظ

([3]) ومتى اخر شاهد الحسبة شهادته بلا عذر فسق فترد الخ (الدرالمختار على هامش ردالمحتار ج۴ ص۵۱۴. ط. س. ج۳ ص ۴۲۳). ظفير

اتم باب

دطلاق رجعی سره متعلق احکام اومسائل

ددوو طلاقو څخه وروسته په عده کی په هم بستری سره رجوع کیږي: **سوال**: (۸۰۲) یوسړی خپلی ښځی ته دوه واری طلاق ورکی، اوبیا هغه دواړه ښځه او خاوند په یوځای کی اوسیږی بیا څو ورځی بیرته رانغی جماع یی وکړی اوکښېنستی، اوس دا وفرمایاست چی هغه وطی کول رجعت سو اوکه تجدید دنکاح ضرورت دی؟

جواب: دوه طلاق هم رجعی دی یعنی وروسته ددوو طلاقو رجعی څخه په عده کی رجعت صحیح دی نوپه دی صورت کی رجوع صحیح سوه اوهم بستری کول دخاوند په عده کی دارجوع ده اوس ددوباره رجوع کولو اویا دنکاح کولو ضرورت پاته نه سو، هغه ښځه په دستور سره په نکاح کی ده او دده ښځه (۱) ده. فقط

ددوو صریحو طلاقو څخه وروسته بی بی: **سوال**: (۸۱۰) یوسړی خپلی ښځی ته دوه صریح طلاقه ورکړه اوس هغه دا راګرځولی سی اوکه نه؟

جواب: ددوو صریحو طلاقوڅخه وروسته دعدی دننه بغیر دنکاح څخه دا راګرځولی سی او دعدی څخه وروسته دنکاح دتجدید ضرورت دی (۲) اودطلاقو عده دری حیضه (۳) دی هکذا فی کتب الفقه قال الله تعالیٰ الطلاق مرتان ای التطلیق الذی یراجع بعده مرتان ای اثنان فامساك ای فعلیکم امساکهن بعده بان ترجعوهن الخ، جلالین (۴).

په غصه کی یی دوه واره وویل طلاق می ورکی، طلاق می ورکی څه حکم دی؟ سوال: (۸۱۱) که چیري بکر په غصه کی خپلی بی بی هندی ته وویل چی ماطلاق درکی ما طلاق درکی آیا هنده طلاقه سوه اوکه نه؟ اوکه چیري طلاق واقع سو نوکم؟ اودنکاح دتجدید ضرورت سته اوکه نه؟

جواب: په دی صورت کی دبکر پر زوجه مسماة هنده باندی دوه طلاق رجعی واقع سوه اوپه عده کی دننه رجوع صحیح ده اوبعد العدت دوباره نکاح کولی سی (۵) ہکذا فی کتب الفقہ.

---

(۱) اذا طلق الرجل امراته تطلیقة رجعیة او تطلیقتین فله ان یراجعها فی عدتها رضیت بذالك اولم ترض الخ والرجعة ان یقول راجعتك الخ اویطاها اویقبلها ویلمیسها بشهوة الخ (هدایه باب الرجعة ج۲ ص ۳۷۳). ظفیر

(۲) واذا طلق الرجل امراته تطلیقة رجعیة اوتطلیقتین فله ان یراجعها فی عدتها رضیت بذالك اولم ترض کذافی الهدایة (عالمگیری مصری باب الرجعة ج۱ ص۴۲۸) واذاکان الطلاق بائنا دون الثلاث فله ان یتزوجها فی العدة وبعد انقضائها (ایضا ج۱ ص ۴۳۱). ظفیر

(۳) وهی فی حق حرة الخ تحیض لطلاق الخ بعد الدخول حقیقة اوحکما الخ ثلاث حیض کوامل (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب العدة ج۲ ص ۸۲۵. ط. س. ج۳ ص۵۰۴). ظفیر

(۴) تفسیر جلالین سورة البقره ص : ۱۲۰. ظفیر　　=

په نکاح کې اوسیږه یاطلاق واخله، ددې په جواب کې ښځې وویل طلاق اخلم نوځه حکم دی؟ **سوال**: (۸۱۲) عمر خپلې منکوحې ته وویل که ته غواړې نوزما په نکاح کې اوسیږه اوکه غواړې نوطلاق واخله تاته اختیار دی، منکوحې وویل چې طلاق اخلم، نوپه دې صورت کې طلاق بائن واقع سو اوکه نه؟

جواب: په دې صورت کې هم طلاق رجعي واقع سو، کما فی الدرالمختار امرك بیدك فی تطلیقة اواختیاری تطلیقة فاختارت نفسها طلقت رجعیة الخ ([1]).

پرچه لیکل په طلاق ورکولو سره کم طلاق واقع کیږي؟ **سوال**: (۸۱۳) یوسړی خپلې ښځې ته یوکاغذ ولیکی او ورېې کی چې په هغه کې دامضمون وو چې ماخپلې ښځې ته طلاق ورکی نوپه دې صورت کې کم قسم طلاق واقع کیږي؟ اوځه حکم دی؟

جواب: په لیکلو سره هم طلاق واقع کیږي، په کاغذ کې چې کم مضمون خاوند لیکلی دی نو په دې سره یوطلاق رجعي دده پرښځې باندې واقع سو، دعدې دننه رجوع په دې کې صحیح ده یعني بغیر دنکاح دخاوند ځخه دا راګرزولی سی او بندولی سی، قال فی الدر المختار یقع بها ای بهذه الالفاظ ومابمعناها من الصریح الخ واحدة رجعیة الخ ([2]).

موږ دیته طلاق ورکوو، په دې ویلو سره طلاق رجعي واقع سو: **سوال**: (۸۱۴) زید په لاندې ډول فقرې لیکلې دي: صباته دې جرګې ته معلومه وي چې موږ ددې انجلې ځخه تنګ سوي یو، تاسو زموږ کالي وغیره چې ځه ددې سره دي ددې ځخه واخلئ اوزموږ مور او پلار ته یې ولیږئ موږ دانه ساتو، ددې مور اوپلار وایي که زموږ انجلۍ ته جواب ورکی نو اوس موږ پخپله طلاق ورکوو، نو په دې صورت کې کم قسم طلاق واقع سو؟

جواب: په دې صورت کې یوطلاق رجعي دده پرښځه واقع سوی دی ځکه چې طلاق صرف په دې لفظ سره واقع سوی دی اوس موږ پخپله طلاق ورکوو نورځه لفظ دطلاقو په دې مضمون کې نسته، لهذا په دې لفظ سره یوطلاق رجعي واقع سو ([3]).

دنن ځخه داطلاقه وګڼې نو داکم قسم طلاق سو: **سوال**: (۸۱۵) زید دخپلې ښځې ځخه خفه سو او دیوې محلې ښځه ته مخاطب سو اودخپلې ښځې په نسبت یې وویل چې دنن ځخه هغه طلاقه وګڼه، دوهمه داچې دنن ځخه که چیري موږ ددې سره دښځه والې تعلق

([5]) اذا طلق الرجل امراته تطلیقة رجعیة اوتطلیقتین فله ان یراجعها فی عدتها (هدایه باب الرجعة ج۲ ص۳۷۳).

([1]) الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب تفویض الطلاق ج۲ ص ۲۲۱، ط. س. ج۳ ص ۳۲۳. ظفیر

([2]) الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب الصریح ج۲ ص ۵۹۰. ط. س. ج۳ ص ۲۴۸. ظفیر

([3]) صریحه ما لم یستعمل الافیه الخ کطلقتك وانت طالق الخ یقع بها ای بهذه الالفاظ ومابمعنا ها من الصریح الخ واحدة رجعیة (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب الصریح ج۲ ص۵۹۰ – ۵۹۲. ط. س. ج۳ ص۲۴۷).

وساتی نودخپلی لورسره به زناکوم، په دی صورت کی کم قسم طلاق واقع سو؟ او دوباره نکاح کیدی سی اوکه نه؟

جواب: په دی صورت کی دزید پرښځی یو طلاق رجعی واقع سو اودوهمه جمله چی: دنن څخه که چیري موږ ددی سره دښځوالی تعلق وساتی الخ، داخطا دی نوپه عده کی رجوع صحیح ده اوبعد العدت نکاح جدید کیدلی سی، اوڅه کفاره په دی کی نسته [1]. فقط

یوطلاق یی ورکی اومتعددو خلکو ته یی وویل چی طلاق می ورکی نوڅو طلاقه واقع سوه؟

سوال: (۸۱۶) زید په خپلی خسرګنۍ کی داکا دښځی او وریندار په مخکی وویل چی ښځی ته ووایه چی موږ طلاق درکی بیایی داخبنی مخ ته وویل چی موږ ستاسو خورته طلاق ورکی اوبیا یی دباندي په خلګو کی وویل چی موږ طلاق ورکی اوڅلورم سړی ته یی هم دا وویل خو دادری واره چی داول وار څخه وروسته دطلاقو تکرار یی وکی دا محض په غرض داطلاع اوداخبار یی ویلی وو اوددی سره تجدد اوتعدد دطلاقو مراد نه وو اوس چی څه حکم وی ویې فرمایاست!

جواب: که چیري دزید نیت په دوباره اوسه باره وغیره سره خبر ورکول وو دطلاق اول نو دده پرښځی صرف یو طلاق رجعی واقع سو [2] اوحکم ددی دادی چی دعدی دننه رجوع بلا نکاح صحیح ده او وروسته دعدی څخه نکاح جدید بلا حلاله کیدی سی. فقط

شراب یی وچښل اودوه طلاق یی ورکړل نوڅه حکم دی؟ **سوال**: (۸۱۷) یوسړی شراب وچښل اوپه حالت دنشه اوغصه کی یی خپلی ښځی ته دوه طلاق ورکړل نوطلاق بائن واقع سو اوکه نه؟

جواب: په یویا دوه طلاق صریح سره طلاق رجعی واقع کیږی بائنه کیږی [3] نه، اودشرابو په نشه کی طلاق واقع کیږی. (وفی التتارخانیة طلاق السکران واقع اذا سکر من الخمر او النبیذ، ردالمحتار کتاب الطلاق ج۲ ص۵۸۴، ظفیر). فقط

دوه طلاقه یی ورکړل اورجوع یی وکړه اوس څلور کاله وروسته یی بیا طلاق ورکی نوڅه حکم دی؟ **سوال**: (۸۱۸) دیوی ښځي داخیال دی چی دری څلور کاله موده وسوه چی دیته

---

[1] اذا طلق الرجل امراته تطلیقة رجعیة اوتطلیقتین فله ان یراجعها فی عدتها رضیت بذالك اولم ترض الخ واذا کان الطلاق بائنا دون الثلاث فله ان یتزوجها فی العدة وبعد انقضائها (هدایه باب الرجعة ج۲ ص۳۷۳ – ۳۷۸).

[2] واذا قال انت طالق ثم قیل له ما قلت فقال قد طلقتها اوقلت هی طالق فهی طالق واحدة لانه جواب (رد المحتار باب الصریح ج۲ ص۷۳۲. ط. س. ج۳ ص ۲۹۳). ظفیر

[3] صریحه ما لم یستعمل الا فیه الخ کطلقتك وانت طالق الخ ویقع بها الخ واحدة رجعیة وان نوی خلافها من البائن الخ اولم ینو شیئا (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب الصریح ج۲ ص ۵۹۱. ط. س. ج۳ ص ۲۴۷). ظفیر

ددی خاوند دوه طلاق ورکړیدی اودعدی په مینځ کی یی رجوع کړی وه اوس دری څلور کاله وروسته یی یوطلاق بل ورکی، نو دا وروسته ورکول سوی طلاق دنورو طلاقو سره پیوست کیدلی سی اوکه نه؟

جواب: دمطلقی دعدی څخه وروسته که چیري بیایی دیته طلاق ورکی نوهغه دمخکی طلاق سره نه سی پیوست کیدی، ځکه چی دطلاق دلاحق کیدلو په شرطونو کی داده چی په عده کی دننه مکرر طلاق ورکړی په درمختار کی دی، الصریح یلحق الصریح ویلحق البائن بشرط العدة قوله بشرط العدة هذا الشرط لابد منه فی جمیع صور اللحاق الخ شامی ([1])

ددروغو زوم جوړسو چاچی طلاق ورکړیدی دده پرخپله ښځه طلاق واقع کیږی: **سوال**:

(۸۱۹) عمر دزید زوم دی زید دعمر څخه دڅه دښمنی په وجه بکر خپل جعلی زوم جوړ کی بغیر ددی څخه چی په واقع کی زید دخپلی لور نکاح دبکر سره کړی وی، په عدالت کی دحاکم په مخکی داخبره ښکاره کړه چی دابکر زما زوم دی حالانکی واقعه ددی خلاف ده، نوجعلی زوم دحاکم په مخکی وویل چی زه خپلی ښځی ته طلاق ورکوم، او دجعلی زوم په نکاح کی اصلاً یوه ښځه ده نو داطلاق او طلاقنامه یی چی دحاکم په مخکی ولیکله نو دده دنفس الامر بی بی په حق کی معتبردی اوکه نه؟ او دبکر حقیقی بی بی به مطلقه وی اوکه نه؟

جواب: په دی صورت کی دبکر پرواقعی بی بی باندی طلاق واقع کیږی، قال فی الدر المختار باب الصریح صریحه مالم یستعمل الافیه فطلقتك الخ ویقع بها واحدة رجعیة وان نوی خلافها ([2]) الخ وقال ﷺ ثلث جدهن جد وهزلهن جد وعد ﷺ منهن الطلاق ([3]).

موږ دیته برابر طلاق ورکوو، دایی ولیکل نوڅه حکم دی؟ **سوال**: (۸۲۰) یوسړی خپل خسر ته داولیکل چی ستاسو لور زموږ دمور او پلار سره برابر تکرار کوی، موږ دیته برابر طلاق ورکوو، په دی صورت کی دده په ښځی طلاق واقع کیږی اوکه نه؟ بل څه صورت دده په زوجیت کی دپاته کیدلو سته اوکه نه؟

جواب: په دی صورت کی ددی سړی پر ښځی په الفاظ مذکوره فی السوال سره چی (موږ دیته برابر طلاق ورکوو) یوطلاق واقع سو اوداطلاق رجعی دی اوددی حکم دادی چی په عده کی دننه خاوند دیتی رجوع کولی سی او وروسته دعدی څخه جدیده نکاح بغیر

([1]) ایضا باب الکنایات ج۲ ص۷۴۵. ظفیر

([2]) الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب الصریح ج۲ ص۵۹۰. ط.س. ج۳ ص ۲۴۷. ظفیر

([3]) مشکوٰة باب الطلاق. ظفیر

دحلالی څخه صحیح ده، قال الله تعالی الطلاق مرتان فامساك بمعروف اوتسریح باحسان ([1])، یعنی طلاق رجعی دوه طلاقه دی اوبیا خاوند ته اختیار دی چی دا وساتی په خیر سره اویا یی پریږدی په خیر سره یعنی چی ضرر رسول یی مقصود نه وی. فقط

دیوه طلاق څخه وروسته دوباره نکاح به څنګه وی؟ سوال: (۸۲۱) یوسړی خپلی ښځی ته یووار طلاق ورکوی که طلاق واقع سی نو دوباره نکاح څنګه کیدی سی؟

جواب: دده پرښځی یوطلاق رجعی واقع سو که چیري عده پوره نه سوه نوخاوند دیته بغیر دنکاح څخه بیا رجوع کولی سی اوکه چیري عده پوره سوی وی نو دوباره نکاح کولی سی ([2]).

په طلاق رجعی کی په مچولو سره رجوع کیږی: سوال: (۸۲۲) که چیري په صورت مسئوله کی پرځای دقول مذکور زید داویلی وی، چی کله دډیری مودی څخه زموږ اوستاسی په مینځ کی خاص تعلق نه وی نو دطلاقو څو موده سوی وه بیا طلاق څه غواړی نوپه دی صورت کی څه حکم دی؟ آیا طلاق واقع سو اوکه نه؟ نوکه طلاق رجعی وی نوکه چیري زید دهندی په شهوت سره بوسه (مچه) واخلی نو رجوع به صحیح وی اوکه نه؟

جواب: کله چی معلومه سوه چی داصورت یعنی په دوهم صورت کی طلاق رجعی واقع سو نو په عده کی په شهوت سره په مچولو سره رجوع صحیح سوه په درمختار کی دی، وبکل ما یوجب حرمة المصاهرة الخ وفی الشامی قال فی البحر ودخل الوطی وتقبیل ([3]) بشهوة الخ.

ماطلاق ورکی، په دې ویلو سره طلاق رجعی واقع سو په عده کی رجوع کیږی: سوال: (۸۲۳) زید خپلی ښځی ته یووار دا وویل چی ما تاته طلاق درکی نوپه دی صورت کی څنګه طلاق واقع سو اوددی درجوع څه صورت دی؟

جواب: که چیري منکوحه دده مدخوله ده نوداطلاق رجعی سو په عده کی رجوع بلا نکاح صحیح ده. فقط

په عده کی رجوع صحیح ده: سوال: (۸۲۴) یوسړی یووار خپلی ښځی ته طلاق ورکی اوس عده لس دولس ورځی وقفه ده نورجوع صحیح ده اوکه نه؟ لفظ دادی، طلاق قطعی می ورکی.

([1]) سورة البقره رکوع : ۲۹. ظفیر

([2]) اذا طلق الرجل امراته تطلیقة رجعیة الخ فله ان یراجعها فی عدتها الخ واذا کان الطلاق بائنا دون الثلاث فله ان یتزوجها فی العدة وبعد انقضائها (عالمگیری مصری باب الرجعة ص۴۳۱. ط. س. ج۳ ص۴۷۲). ظفیر

([3]) ردالمحتار باب الرجعة ج۲ ص۷۲۹. ط. س. ج۳ ص ۳۹۹. ظفیر

جواب: په دی صورت کی که چیري خاوند صرف یوطلاق ورکړی دی نوپه عده کی رجوع کول صحیح دی یعنی بلا نکاح یی ګرزولی سی (۱) خاوند دا وویل چی ماخپلی بی بی ته رجوع وکړه (۲) اودقطعی لفظ دیقینی په معنٰی کی دی په دی سره طلاق بائن نه کیږی.

<u>په طلاق بائن کی رجوع نسته</u>: **سوال**: (۸۲۵) په طلاق بائن کی رجوع کول صحیح دی او که نه؟

جواب: په طلاق بائن کی رجوع کول بغیر دنکاح څخه صحیح نه دی البته که طلاق بائن یو یادوه وه او دری نه وه نودعدی دننه او وروسته دعدی څخه نکاح جدید بغیر دحلالی څخه صحیح ده اوکه دری طلاقه بائن یی ورکړی وی نوبغیر دحلالی څخه نکاح صحیح نه ده. (۳) فقط

<u>ماطلاق ورکړیدی په دي ویلو سره طلاق رجعی واقع کیږي</u>: **سوال**: (۸۲۶) زید خپل خسر بکر ته یو خط ولیکی چي زبیدی خپلی دوهمی کونډی لور ته اطلاع ورکړه چه هندی ته ما یعنی زید طلاق ورکړیدی زبیدی دزید سره نکاح وکړه زبیدی انکار وکی حالانکی زید هندی ته څه خبر نه دی لیږلی لیکن هندی ته په اوریدو را اوریدو سره ددی خبری علم وسو اوپه دری میاشتو کی دننه زبیده زید ته راغله اواوس دزید سره اوسیږی، زید دهندی سره دوباره نکاح ونه کړه نو په دی صورت کی هندی ته طلاق واقع سو اوکه نه؟ که طلاق واقع سو نو درخصت څه صورت دی؟

جواب: په دی صورت کی پرهندی باندی یوطلاق رجعی واقع سو، نوپه عده کی دننه دننه زید بلا نکاح هندی ته رجوع کولی سی اورجوع داده چی دعدی دننه ووایي چی ماخپلی بی بی ته رجوع وکړه (۴) اودمطلقی عدی دری حیضه ده. فقط

<u>دیو دوه صریحی طلاق څخه وروسته رجوع صحیح ده او دنکاح جدید ضرورت نسته</u>: **سوال**: (۸۲۷) زید دهندی سره نکاح وکړه تریوه کاله پوری دهندی اودزید کور اباد وو، بیا زید ناجوړه سو اودزندګی هیڅکله امید نه وو، دزید وروڼو په حالت دناجوړی دزید څخه

---

(۱) اذا طلق الرجل امراته تطليقة رجعية اوتطليقتين فله ان يراجعها فی عدتها رضيت بذالك اولم ترض (الی قوله) والرجعة ان راجعتك اوراجعت امراتی الخ (هدایه باب الرجعة ج۲ ص ۳۷۳). ظفير

(۲) ايضا ج۲ ص ۳۷۳. ظفير

(۳) واذا كان الطلاق بائنا دون الثلث فله ان يتزوجها في العدة وبعد انقضائها (الی قوله) وان كان الطلاق ثلاثا الخ لم تحل له حتی تنكح زوجا غيره نكاحا صحيحا ويدخل بها ثم يطلقها او يموت عنها (هدایه ج۲ ص۳۷۸).

(۴) اذا طلق الرجعی امرأته تطليقة رجعية او تطليقة فله ان يراجعها فی عدتها رضيته بذالك اولم ترض الخ والرجعية ان يقول راجعتك اوراجعت امراتی الخ اويطأها اويثبتها لا ويلمسها بشهوة (هدایه باب الرجعة ج۲ ص ۳۷۳). ظفير

جبراً طلاق واخيستی قبل دمعیاد (عده تیریدلو څخه) زید هندی ته بیا رجوع وکړه آیا رجوع صحیح ده اوکه نه دنکاح دتجدیدولو ضرورت سته؟

جواب: که طلاق یودوه صریحي زید اخیستی وی بیا خو دعدی دننه چی زید رجوع وکړه نوهغه صحیح سوه او هنده بدستور دده ښځه ده دنکاح جدید ضرورت نه سته (۱) اوکه دزید څخه یی دری طلاقه اخیستی وی نوبیا رجوع کول صحیح نه دی اوبغیر دحلالی دهندې سره دزید نکاح نه سی کیدی. فقط

که پته خوله نه سوی، په دې ویلو سره کم طلاق واقع کیږی؟ سوال: (۸۲۸) دښځی او خاوند پخپل مینځ کی جګړه وه سړی دیوی ښځی طرف ته مخاطب سو اووی ویل چی که چیري پته خولهه نه سوی نو تاته طلاق دی نوپه دی وار هم پته خوله نه سوه، بیا په دریم وار سړی وویل چی که چیري پته خوله نه سوی نوتاته طلاق دی نوپه دی دریم وار کی ښځه بالکل پته خوله سوه ، په دی صورت کی طلاق واقع سو، او خاوند دطلاقو مالك سو، اوخاوند ته اختیار دبیرته لیري کولو سته اوکه نه؟

جواب: په دی صورت کی طلاق رجعی وسو، ځکه چی تر دوه طلاق صریح پوری رجعی وی، کما قال الله تعالٰی الطلاق مرتان (۲). ای الطلاق الرجعی اثنان، نوپه عده کی دننه خاوند دامطلقه بیرته په نکاح کولی سی او وروسته بې له نکاح جدید دا دوباره کول صحیح نه دی البته په نکاح جدید سره یی واپس کولی سی، هکذا فی الدرالمختار (۳)، او خاوند په دی صورت کی دیوبل طلاق مالك پاته سو، نوکه چیري مخکی دانقضاء دعدی څخه یوطلاق بل ورکړی نودری طلاقه به واقع سی بیابه بغیر دحلالی څخه ددی سره نکاح صحیح نه وی کما بین في کتب الفقه. فقط

په: یوطلاق په دوو طلاقو کی، ویلو سره دوه طلاق واقع کیږي: **سوال**: (۸۲۹) یوسړی خپلی ښځی ته وویل تاته یوطلاق دوه طلاقه ته کور ته ولاړه سه، یوسړی طالق ته وویل چی یو طلاق دی ولی باقی وساتی، نوهغه جواب ورکی چی هغه یو طلاق ترزندګی پوری به نه ورکوم بعضی عالمان وایي چی پرښځه باندی دری طلاقه واقع دی ځکه چی یوطلاق دوه طلاقه جمله دری طلاقه سوه اوبعض وایي چی دوه طلاقه رجعی واقع سوه ځکه چی دعطف مفقود اودسکوت معدوم دواړو په مینځ کی انفصال نسته نوپه دی صورت کی شرعًا څه حکم دی؟

---

(۱) ایضا. ظفیر

(۲) سورة البقره. ظفیر

(۳) حواله یي وار وار تیره سویده. ظفیر

جواب: کله چې نیت دخاوند دیو او ددوو دجمع کولو نه وی نوپه دی صورت کی دده پر ښځی باندی دوه طلاق رجعی واقع سوه لکه چې څنګه دخاوند دجواب څخه هم معلومیږی (۱).

طلاق مې ورکی ورکی ورکی په دې ویلو سره یوطلاق واقع سو: **سوال**: (۸۳۰) دخالد دژبی څخه دغصی په حالت کی دخپلی خوابنې په دروازه کی دا الفاظ ووتل دزید لور جمال النساء ته مې طلاق ورکی ورکی ورکی لیکن دښځی نوم جمال جهان دی لیکن ولدیت صحیح دی آیا په غلط نوم دښځی سره طلاق واقع سو اوکه نه؟ ورکړی، ورکړی، ورکړی تکرار دپاره دلفظ دطلاقِ اول دپاره دی اوکه دطلاق ثلاثۀ دپاره؟

جواب: په داسی غلطی سره طلاق دده پر ښځی واقع کیږی، او ورکړی، ورکړی، ورکړی، تکرار دتاکید دطلاق سابق دی لهذا په دی صورت کی یوطلاق رجعی به وی (۲). فقط

یو طلاق یې ورکی کله چې یې راوسته نو رجوع وسوه، دبل سره ددې نکاح صحیح نه ده:

سوال: (۸۳۱) عمر په دهوکی سره په زید شراب وڅښل اودڅو سړیانو په مدد سره یې په زور سره دزید دخولې څخه دطلاقو الفاظ وایستل لیکن زید وایي چې ماهندی ته صرف یووار طلاق ورکړیدی، دحالت صحیح کیدلو څخه وروسته څه موده په دواړو کی تعلق دزوجیت قائم سو، زید دکسبِ معاش دپاره بابر ته ولاړی، اوعمر جبراً دده دښځی سره نکاح وکړه اوهغه یې دخپل ځان سره وساتله نو په دی صورت کی شرعًا څه حکم دی؟

جواب: هغه ښځه دزید منکوحه ده ځکه چې زید هندی ته یوطلاق ورکړی وو اوبیا کله چې هغه یې په مثل دمنکوحی وساتله نورجوع صحیح سوه اونکاح قائمه پاته سوه نود عمر نکاح ددی سره صحیح نه سوه. فقط

طلاق نامه یې ولیکله اوه ورځی وروسته یې بچې پیداسو نواوس رجوع نه سی کیدی: **سوال**:

(۸۳۲) زید خپلی حاملې ښځی ته ددی په وینا طلاقنامه ولیکله مګر دری طلاقه یې ونه لیکل اونه هغه دری واره په ژبی سره طلاق ورکی، دطلاق ورکولو څخه پنځلس ورځی وروسته دزید او دده دښځی دوباره میلان وسو، زید دی ته نان اونفقه ورکول شروع کړل وروسته دطلاق نامی څخه په اووه اته ورځوکی انجلی پیداسوه، آیا زیدمسلمان مذکوره

---

(۱) وبواحدة فی ثنتین واحدة الخ وان نوی واحدة وثنتین فثلاث وفی غیر الموطوئة واحدة کواحدة وثنتین وان نوی مع الثنتین فثلاث مطلقا (درمختار) فان الواو للجمع الخ فصح ان یراد به معنی الواو (ردالمحتار باب الصریح ج۲ ص۲۰۳. ط. س. ج۳ ص۲۲۱). ظفیر

(۲) اذا طلق الرجل امراته تطلیقة رجعیة اوتطلیقتین فله ان یراجعها فی عدتها الخ والرجعة ان یقول راجعتك الخ او یطأها او یقبلتها اویلمسها بشهوة (هدایه باب الرجعة ج۲ ص۳۷۳). ظفیر

ښځه په يو ډول په خپل کورکی ساتلی سی اوکه نه؟

جواب: که چيري دری واره طلاق ونه ليکی اونه زبانی دری طلاقه ورکی نوپه دی صورت کی دعدی دننه رجوع بلا نکاح صحيح سوه، مګر کله چی په وخت دطلاق هغه ښځه حامله وه، نوعده ددی وضع دحمل وو، اوکله چی بچی پيداسو نوعده ددی ختمه سوه، ([1]) نوکه خاوند دبچی دپيدا کيدو څخه مخکی ديته رجوع نه وه کړی نواوس بلانکاح رجوع نه سی کولی خو البته نکاح جديده بلا حلالی کولی سی *کذا فی کتب الفقہ*. ([2]) فقط

دعدی دننه په رجوع نه کولو سره بائنه سوه دنکاح تجديد کول به وی: **سوال**: (۸۳۳) زيد خپلی ښځی ته طلاق رجعی ورکی بيايی رجوع کول وغوښتل خوښځه راضی نه سوه تر دی پوری چی څلور پنځه مياشتی تيری سوی اوعده پوره سوه، اوس زيد ښځی ته رجوع کولی سی اوکه نه؟

جواب: په طلاق رجعی کی دخاوند رجوع په عده کی دننه صحيح ده خپلی ښځی ته اوپه دی کی دښځی درضامندی ضرورت نسته بدون درضاء اواجازت دښځی څخه هم خاوند ديته دعدی دننه رجوع کولی سی خو که چيري خاوند دعدی دننه خپلی ښځی ته رجوع ونه کړه خو په دی پوه سو چی رجوع يی ونه کړه چی بلا رضاء مندی دښځی رجوع کول صحيح نه دی نو دعدی څخه وروسته هغه ښځه بائنه سوه اوس بغير دنکاح جديد څخه دهغه بيرته کول صحيح نه دی اونکاح جديد دښځی په رضا مندی سره کيدی سی ([3]).

په طلاق رجعی کی دعدی دننه په جماع سره رجوع کول کيدی سی: **سوال**: (۸۳۴) زيد په سلسله دتکرار خپلی ښځی هندی ته دوه واره وويل چی ماتاته طلاق درکی ددی څخه وروسته په قريب زمانه کی چی تعداد دورځو ورته ياد نه وو، دجګړی په ختميدو سره زيد دخپلی ښځی سره هم بستری وکړه، نوپه داسی حالت کی الفاظ دطلاق باطل سوه، اوښځه به په دستورسره منکوحه متصورروی، اوفعل دهمبستری به حلال وی اوکه حرام؟

جواب: په دی صورت کی طلاق رجعی وسو، لهذا که په عده کی زيد ددی سره وطی وکړی نو دا رجوع صحيح سوه اوهغه په دستور سره دزيد ښځه سوه، ليکن شرط دادی چی زيد دعدی دننه يعنی تر طلاق وروسته ددری حيضه پوره کولو څخه مخکی صحبت

([1]) وفی حق الحامل الخ وضع جميع حملها (درمختار) ای بلاتقدير بمدة سواء ولدت بعد الطلاق اوالموت بيوم او اقل الخ (ردالمحتار باب العدة ج۲ ص ۸۳۱. ط. س. ج۳ ص ۵۱۱). ظفير

([2]) و([3]) اذا طلق الرجل امراته تطليقة رجعية اوتطليقتين فله ان يراجعها فی عدتها الخ رضيت بذالك اولم ترض (هدايه باب الرجعة ج۲ ص۳۷۳) واذا كان الطلاق بائنا دون الثلاث فله ان يتزوجها فی العدة وبعد انقضا ئها (عالمگيری مصری باب الرجعة ج۱ ص ۴۳۱، ط. ماجدية ج۱ ص۴۴۲). ظفير

کړی وی (۱). فقط

یوطلاق یې ورکړې بیایې دخبر ورکولو په طور دیته څو واره تکرار کړې نوڅومره طلاق واقع

سول: سوال: (۸۳۵) یوسړی په غصه کې وویل چې زه خپلې ښځې ته طلاق ورکوم ددی ځخه وروسته هغه دخپل کور طرف ته ولاړی، خلګو منعه کړی هغه وویل چې ماولی منع کوی ماخو طلاق ورکړی دی، ددی څخه وروسته دی خپل کور ته ولاړی او خپلی ښځی ته یی وویل چې ته ولاړه سه، دیوې پردۍ ښځې په پوښتنې ښځې وویل: چې ولی ولاړه سم، هغه خاوند وویل چې ما دډیرو سړیانو په مخکی طلاق ورکړیدی هغه سړی وایي چې وروسته الفاظ ما دخبر ورکولو اوښوولو دپاره ویلی دی نه ددوباره طلاق ورکولو دپاره، نوپه دی جملو سره طلاق رجعی وسو اوکه طلاق مغلظ؟

جواب: په دی صورت کی کله چې سړی مذکور دوهم اودریم وار دطلاق لفظ داول طلاق دخبر ورکولو په غرض سره ویلی وی، اودجدید طلاق ورکولو په نیت سره یی نه دی ویلی نو پردی ښځې یوطلاق رجعی واقع سو په دی کی دعدی دننه رجوع بلانکاح جدید صحیح ده او وروسته ترعدی په نکاح جدید سره رجوع کولی سی. *کذا فی الدر المختار* (۲).

ددوو طلاقو څخه وروسته یی رجوع وکړه بیا کله چې یی دریم طلاق ورکی نو اوس هغه مغلظه سوه: سوال: (۸۳۲) زید هندی ته یوطلاق رجعی ورکی رجعت یی وکی دعدی دننه بیا څو میاشتی وروسته یوبل طلاق رجعی یی ورکی ددی څخه یی هم رجعت وکی بیاڅو میاشتی وروسته یی یوبل طلاق رجعی ورکی په دی صورت کی دری طلاقه دزید پر ښځې هنده باندی واقع سوه اوکه رجعی؟

جواب: په دی صورت کی دده ښځه مطلقه ثلثه سوه، یعنی په درو طلاقوسره بائنه مغلظه سوه اوس بدون حلاله اولنی خاوند ددی سره نکاح نه سی کولی (۳).

که چیري نن شپه رانغله نوطلاق بیا رانغله نو رجعی طلاق به واقع سی: سوال: (۷۳۷) (۱) که چیري یوه ښځه بغیر دخپل خاوند درضامندی اواجازت څخه دخپل مور کورته ولاړه سي، او دهغې زوج یوځل دا ووایي چې که چیري نن شپه کورته رانغله نو دې ته طلاق دی او سره له رابللو ښځه رانغله نوپه دې سره پرښځې باندي کم قسم طلاق واقع سو؟

---

(۱) والرجعة ان یقول راجعتك الخ اویطاها اویقبلها اویلمسها بشهوة (هدایه باب الرجعة ج۲ ص۲۷۳). ظفیر

(۲) حواله تیره سویده. ظفیر

(۳) الطلاق مرتان فامساك بمعروف اوتسریح باحسان الخ فان طلقها فلا تحل له حتی تنکح زوجا غیره (سورة البقرة رکوع: ۲۸) لاینکح مطلقة من نکاح صحیح نافذ بها ای بالثلاث الخ حتی یطاها غیره الخ بنکاح نافذ الخ وتمضی عدة الثانی (الدرالمختارعلی هامش ردالمحتارباب الرجعة ج۲ ص۷۳۹. ط. س. ج۳ ص۴۰۹). ظفیر

(۲) که طلاق رجعي ثابت سي نوپه رجوع کولوکي دښځي اووديږ دمور اوپلار څه اختيار دی؟

(۳) که سړی رجوع کول غواړي او ښځه يا ددې مور او پلار رضا نه وي نوڅه حکم دی؟ په رجوع کولو کي دښځي موجوديدل ضروري دي اوکه نه؟ وروسته تر رجوع ددواړو يو ځای کيدل ضروري دي اوکه نه؟

(۴) چي کله دښځي له لوري دطلاق دشرط دنه پوره کولو له امله طلاق واقع سي نو دطلاق ذمه واري پر ښځي ده اوکه پر زوج؟ او دمهر حکم څه دی؟

جواب: (۱- ۳) په دې صورت کي يوازي يو طلاقِ رجعي پر ښځي واقع سو، ددې حکم دا دی چي په عده کي دننه زوج بې له رضامندي دښځي او بې له رضامندي ددې دمور او پلار څخه رجوع کولی سي يعني چي په ژبه دا ووايي چي ما دې ته رجوع وکړه او ددستور موافق مي هغه خپله ښځه جوړه کړه دښځي دخوښی ضرورت نسته اونه هم ديو ځای والی او کوروالي ضرورت سته، يوازي په ژبه باندي په ويلو سره چي ما خپلي ښځي ته رجوع وکړه، رجوع صحيح کيږي اونکاح باقي پاته کيږي، په درمختار کي دي: وتصح بنحو راجعتك الخ وان ابت الخ . (۱)

(۴) په دې صورت کي ښځي هغه کار وکي چي له امله يې طلاق واقع سو.

دنشې په حالت کي يې طلاق ورکړی په هوښ باندې دراتلو څخه وروسته يې رجوع وکړه، نو څه حکم دی؟

سوال: (۸۳۸) يو سړی دنشې په حالت کي ديو دوو خلګو په تير ايستلو سره خپلي زوجې ته طلاق ورکی، په هوښ باندي دراتلو څخه وروسته هغه په دوهمه ورځ رجوع وکړه، په دې صورت کي طلاق واقع سو اوکه نه؟ او رجوع کول يې صحيح سوه اوکه نه؟

جواب: دنشې په حالت کي شرعاً طلاق واقع کيږي، درمختار، ليکن که چيري هغه يو يا دوه طلاقه صريح ورکړي وي او درې طلاقه يې نه وي ورکړي نو وروسته تر هوښيار کيدلو او وروسته تر نشه تللو دزوج رجوع کول صحيح دي، او وروسته تر رجوع کولو هم هغه ښځه ددستور موافق دده ښځه ده او نکاح يې قائمه ده: قال الله تعالی: الطلاق مرتان ای الطلاق الرجعي اثنان وقال في الدرالمختار وتصح بنحو راجعتك الخ ای لم يطلق بائناً الخ وفي الشامي قلت هو ای شروط الرجعة ان يکون الطلاق ثلاثا الخ (۲).

يوطلاق دوه طلاق مې ورکړه، په دې ويلو سره څوطلاقه کيږی چی کله يې نيت درجوع وي؟

(۱) الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب الرجعة ج۲ ص۷۲۸ – ۷۳۰. ط. س. ج۳ ص ۳۹۸ – ۴۰۰. ظفير

(۲) ردالمحتار باب الرجعة ج۲ ص۷۳۰. ط. س. ج۳ ص ۲۹۸ – ۴۰۰. ظفير

سوال: (۸۳۹) یوسړی په حالت دغصه کی خپلی ښځی ته وویل یوطلاق دوه طلاقه می ورکړه اونیت یی درجوع وو، خو داچی ښځی ته زجر وسی نوپه دی سره دوه طلاقه واقع سوه اوکه دری؟ اورجوع کیدی سی اوکه نه؟ اوکه مثلا ښځی ته په لفظ دخطاب سره ووایي چی تاته می طلاق درکی یایی په صیغه دغائب سره وویل نو په خطاب اوپه عدم خطاب سره څه فرق سته اوکه نه؟

جواب: په اصل کی په دی لفظ سره چي یوطلاق دوه طلاقه می درکړه دری طلاقه دده پر ښځی واقع سو، کما یفهم من قول صاحب الدرالمختار وان نوی واحدة وثنتین فثلث لو مدخولة بها وفی غیر الموطوئة واحدة وثنتین لانه لم یبق للثنتین محل الخ (۱)، یعنی په غیر مدخوله کی په یوطلاق ویلو سره بائنه کیږی او ددوو دپاره ښځه محل پاته نه سوه ددی سره پیوست کیږی که چیري مدخوله وه نودری طلاقه واقع کیږی لیکن که چیري خاوند نیت داضراب اوداعراض وی یعنی داچی یونه بلکی دوه طلاقه می ورکړه یعنی یو اول اویو بل طلاق می ورکړی نو دیانةً دده دانیت به معتبر سی اودوه طلاقه به واقع سی اورجوع په عده کی صحیح کیږی او ددواړو صورتونو حکم یودی.

<u>دطلاق څخه وروسته رجوع جائز ده او وروسته دعدی څخه نکاح</u>: **سوال**: (۸۴۰) دمسمّٰی عظیم الله ښځه مسماة وحیدن یوه ورځ بلا اجازته دخاوند څخه دیوی علاقایی ښځی نکاح ته چی ددی دکوچنی والی ملګری وه اوددی هم قومه وه تللی وه اویوه شپه ددی سره پاته سوه اوبیا سهار کله چی خپل ځای ته راغله نودکورنۍ خلګو چی ددی ښځی او ددی دخاوند مخالف اوددی برخلاف وه هغوی مسماة وحیدن ددی دملګری مسماة رسوان دخاوند سره تهمتی کړه چی دهغه څخه وروسته نهمه میاشتی دوحیدن هلك پیدا سو، لیکن ددی تهمت څخه وروسته مسماة وحیدن خپل ځای ته رانغله نوحیض یی راغی لکه څنګه چی دکور اودمحلی ښځو ته اوپخپله دعظیم الله څخه معلومه سوه، همدارنګه عظیم الله دهغه دتهمتونو څه اثر قبول نه کړی اودښځی سره یی تعلق ددستور موافق وساتی ددی څخه وروسته عظیم الله کلکته ته ولاړی، کله چی دکورنۍ خلګو دده پلار اوکور والا زیات تنګ کړه نوهغوی عظیم الله ته خط ولیکی چی دهغه په جواب کی هغه دکلکته څخه دا الفاظ ولیکل اووی لیږل چی موږ خپلی ښځی مسماة وحیدن ته طلاق ورکړی، لیکن ددی باوجود مسماة وحیدن دده په نکاح کی ده او دفریقینو زړه صفا دی، ددی څخه وروسته ددی یوه بله انجلی هم پیدا سوه، مګر دکورنۍ خلګو تر

(۱) الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب الصریح ج۲ ص ۲۰۳. ط.س. ج۳ ص۲۲۱. ظفیر

اوسه پوری دده پلار وغیره دخاندان څخه خارج کړیدی چی طلاقه سوی ښځه عظیم الله ولی په خپل کور کی ساتلی ده، په دې اړه څه حکم دی؟

جواب: عظیم الله که چیري خپلی ښځی وحیدن ته صرف یوطلاق ورکړی وی لکه څنګه چی یی په خپل خط کی لیکلی دی نوپه دی صورت کی دعدی دننه رجوع کول بدون دنکاح څخه صحیح دی، او وروسته دعدی څخه نکاح جدید بلا حلاله کیدی سی نو که چیري عظیم الله په عده کی دننه خپلی ښځی ته رجوع وکړه نودده نکاح قائمه ده (۱) او دخاندان دخلګو داظلم دی چی بی وجه عظیم الله اودده پلار تنګوی اودخاندان څخه یی باسی اهل خاندان ته داسی معامله هیڅکله شرعًا جائز نه ده اواول هم تهمت لګول پر مسماة وحیدن شرعا معصیت اوګناه وه، اوددی څخه توبه کښل په کاردی.

داستفتاء مخکی جواب راغی چی طلاق نه دی یوځای ورسره اوسیده څو میاشتی وروسته جواب ورکول سو چی طاق اوسو دمینځینی مودی څه حکم دی؟ سوال: (۸۴۱) زید یو استفتاء په باره دطلاقو کی ددوو علماء دین په خدمت کی ولیږله، په مخکی جواب کی دا وه چی طلاق واقع نه سو چنانچی زید فوراً خپلی ښځی ته رجوع وکړه ددی څخه وروسته دوهم جواب ورکول سو چی زید ته اونه ښوول سو په دی دوران کی دزید بی بی حامله سوه اوهلك پیداسو نو په دی صورت کی څه حکم دی؟

جواب: دمخکی فتوٰی څخه وروسته چی کمه رجوع یی وکړه اووطی وسوه اوحمل یی ونیوی اوهلك پیداسو، داټول دمستفتی په حق کی جائز سوه اوهلك ثابت النسب سو څکه چی دمسائلو په حق کی فتوٰی دمفتی حجت وی، ددی څخه وروسته چی کله دا تحقیق وسو نو چی مخکی فتوٰی غلطه وه اودوهمه فتوٰی ددی خلاف معلومه سوه نوکم فعل مخکنی چی وسو نوهغه حلال پاته سو اوهلك هم ثابت النسب پاته سو لکه څنګه چی دموطوئة بالشبهه حکم دی (۲)، اوپه آئنده کی به دده څخه جلاوی اوکم حکم چی دطلاقو ثلثه وو دی هغه به جاری وی یعنی بدون دحلالی څخه به هغه سړی ددی مطلقی ثلاثه سره نکاح نه کوی اودابه حلاله نه ګنی. فقط

دطلاقو څخه وروسته ښځه منع کولی سی اوکه نه؟ سوال: (۲۴۲) یو سړی خپلی ښځی ته طلاق ورکړی اودعدی څخه وروسته دا مطلقه بیا اخیستل غواړی نو آیا هغه سړی ددی مطلقی سره نکاح کولی سی؟

---

(۱) والرجعة ان یقول راجعتك الخ اویطاها اویقبلها اویلمسها بشهوة (هدایه باب الرجعة ج۲ ص۲۷۳). ظفیر

(۲) وعدة المنکوحة نکاحا فاسداً فلا عدة فی باطل وکذا موقوف قبل الاجازة لکن الصواب ثبوت العدة والنسب والموطوئة بشبهة الخ (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب العدة ج۲ ص۸۳۵. ط. س. ج۳ ص۵۱۲). ظفیر

جواب: که چیري یویا دوه طلاق یی ورکړی وی نو ددی سره دوباره نکاح کولی سی. فقط

دعدي ځخه وروسته بلا نکاح سائل ځنګه دی؟ **سوال**: (۸۴۳) که چیري دغه سړی همدغه ډول ښځه خپل کورته بوزی نوددی دنس ځخه پیدا سوی اولاد ته ولد الحرام ویلی سی؟ او ددی دجائیداد وارث به وی اوکه نه؟

جواب: که چیري بلانکاح ددی ځخه اولادوی نوهغه به ولد الزناء وی اووارث دده دترکه به نه وی. فقط

ددوو طلاقو رجعی ځخه وروسته چی رجوع وکړی نو اوس ددریم طلاق ځخه وروسته رجوع نسی کولی: **سوال**: (۸۴۴) زید خپلی ښځی ته طلاق رجعی ورکړی اورجوع یی ښکاره کړه بیا په دوهم وار یی طلاق رجعی ورکړی اورجوع یی وکړه ددی ځخه وروسته یی په دریم وار هم طلاق رجعی ورکړی نو وروسته ددریم طلاق مذکوره ځخه رجوع جائز ده اوکه نه حلالی ته محتاج دی اوهغه نور مخکنی طلاقونه په سبب درجوع حکم دعدم لری اوکه حکم دوجود؟ چی په وجه دهغه مغلظه ثلثه ثابت سویدی حلالی ته محتاج سو، په تقدیر دهغه چی ټول سابقه طلاق په سب درجوع به ساقط سی، نو داعبارت دمتونو ځه معنٰی لری چی: یحرم الزوج الثانی ما دون الثلث.

جواب: مسئله همدا ده چی دوهم خاوند مخکنی طلاق ختموی اوبغیر دزوج ثانی ځخه ټول طلاق سابقه نه ختمیږی نو په صورت (۱) مسئوله کی سړی دطلاقو ثلثه ؤ ته بغیر دحلاله ښځه دده پرده باندی نه حلالیږی، کما قال الله تعالٰی الطلاق مرتان (الی قوله) فان طلقها فلا تحل له من بعد حتٰی تنکح زوجًا غیره (۲)، الآیة. فقط

خاوند وویل چی ما طلاق ورکی هغه زما مور ده، نوکم ډول طلاق واقع سو: **سوال**: (۸۴۵) بکر خپلی ښځی ته دا وویل چی ماطلاق درکی دنن ځخه هغه زما مورده نوپه دی صورت کی پرهندی باندی کم طلاق واقع سو؟

جواب: په دی صورت کی دبکر پرښځی باندی یوطلاق واقع سو اوپه عده کی رجوع بدون دنکاح ځخه صحیح ده او وروسته دعدی ځخه نکاح جدید کولی سی اودحلالی ضرورت نسته، کما قال الله تعالٰی الطلاق مرتان فامساك بمعروف اوتسریح (۳) باحسان الایه، او دمور په ویلو سره بلا حرف التشبیه طلاق یا ظهار نه کیږی، وان لا ینو او حذف

---

(۱) والزوج الثانی یهدم بالدخول فلولم یدخل لم یهدم اتفاقا ما دون الثلاث ایضا ای کما یهدم اجماعا لانه اذا هدم الثلاث فمادونها اولی (الدرالمختارعلی هامش ردالمحتار باب الرجعة ج۲ ص۷۴۲. ط.س. ج۳ ص۴۱۸).

(۲) سورة البقره رکوع : ۲۹. ظفیر

(۳) سورة البقره رکوع : ۲۹. ظفیر

الکاف لغا، (۱) درمختار.

ښځې ته يې وليکل چې تاته مې طلاق شرعي درکړې نورجوع کول صحيح دي اوکه نه؟

سوال: (۸۳۲) يوسړی خپلی ښځی ته طلاق نامه وليکله چې ماتاته طلاق شرعی درکړی دی نو په دی صورت کی رجوع صحيح ده اوکه نه؟

جواب: په دی صورت کی يوطلاق دده پرښځی واقع سو اوپه عده کی دننه ديته رجوع کولی سی (۲). فقط

دطلاق څخه وروسته چې ښځه خاوند بوزي نو اوسيدلی سی اوکه نه؟ سوال: (۷۴۷) زيد خپلی ښځی هندی ته طلاق ورکی، وروسته دواړه غواړی چی بيا ميلان وکړی، نو په دی صورت کی دزيد نکاح بيا دهندی سره کيدی سی اوکه نه؟ اوکه چيري نکاح نه سی کيدی نو داهم شرعًا ناجائزده چی دواړه دی په يوکور کی اوسيږی، اوخپل وخت تيرول دخپل بالغ بچی سره کولی سی اوکه نه؟ چی کم معاملات دښځی اودخاوند په مينځ کی کيږی نو ددی سره يې څه تعلق نسته.

جواب: که چيري زيد يادوه طلاقه صريحی ورکړی وی نو ددی حکم دادی چی دعدی دننه بلا نکاح رجوع صحيح ده او وروسته دعدی څخه نکاح کولی سی، اوکه چيري دری طلاقه يې ورکړی وی نو دحلالی څخه بغير زيد ددی سره نکاح نه سی کولی (۳) اوپه حالت دعدم نکاح دواړه يوځای پاته کيدل که چيري دپردی سره وی او اولاد موجود وی نوپه ضرورت کی څه حرج نسته، *کذا فی الدر المختار عن شیخ الاسلام رحمۃ اللہ علیہ وغیرہ* (۴). فقط

ښځې ته يې وويل چې يو طلاق دوه طلاقه مې درکړه نو څو طلاقه واقع سوه؟ سوال: (۸۴۸) يوسړی دتبی په حالت کی دځوسړيو اودښځو په مخکی خپلی ښځی ته وويل چی اخښی ته مي يوطلاق دوه طلاق ورکړل، لکه چی هغه خلګ داشاهدی ادا کوی اودوهم يوشاهد

---

(۱) الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ج۲ ص۷۹۴ باب الظهار. ط. س. ج۳ ص ۴۷۰. ظفير

(۲) ومحله المنکوحة الخ طلقة رجعية فقط فی طهر لاوطی فيه وترکها حتٰی تمضی عدتها الخ فعلم ان الاول سنی (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار کتاب الطلاق ج۲ ص۵۷۴، ط. س. ج۳ ص۲۳۰ – ۲۳۱) . ظفير

(۳) اذا طلق الرجل امراته تطليقة رجعية اوتطليقتين فله ان يراجعها فی عدتها رضيت بذالك اولم ترض لقوله تعالٰی فامسکوهن بمعروف من غير فصل الخ واذا کان الطلاق بائن دون الثلث فله ان يتزوجها فی العدة وبعد انقضاء ها الخ وان کان الطلاق ثلثا فی الحرة اوثنتين فی الامة لم تحل له حتی تنکح زوجا غيره نکاحا صحيح ويدخل بها ثم يطلقها اويموت عنها (هدايه باب الرجعة ج۲ ص ۳۷۳ وج۲ ص ۳۷۸). ظفير

(۴) وسئل شيخ الاسلام عن زوجين افترقا ولكل منهما ستون سنة وبينهما اولاد تتعذر عليهما مفارقتهم فيسكنان في بيتهم ولا يجتمعان في فراش ولا يلتقيان التقاء الازواج هل لهما ذلك قال نعم واقره المصنف (الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب العدة ج۲ ص۸۵۵، ط.س. ج۳ ص۵۳۸). ظفير

وايي چې ددوو طلاقو څخه وروسته يې دبائن لفظ هم ووايه په دې صورت کې څه حکم دی؟ په دې يومفتي صاحب ددوو طلاقو رجعي فتوٰی ورکړيده چې دهغه نقل هم سته يوصاحب دجواب مذکور تغليط کړی اوطلاق بائن يې ثابت کړيدی نو ددې متعلق څه حکم دی؟

جواب: کله چې دې سړي خپلې ښځې ته ښکنځل وکړه اوطلاق يې ورکړيدی نودده په ښځې باندې طلاق واقع سويدی اودشاهدانو دبيان موافق دده پر ښځې دوه طلاق رجعي واقع سوه دعدې دننه په دې کې رجوع صحيح ده اوديو شاهد طلاق بائن ويل معتبر نه دی، نو جواب دمجيب صحيح دی او دتغليط کولو والا تغليط غلط دی. فقط

<u>په لاندينې صورت کې څه حکم دی؟</u> سوال: (۸۴۹) زيد دخپلې کړې رايې په وجه سره په خپلې ښځې هنده باندې ناراضه دی دهندې پلار زيد ته وايي چې ياخو زما دلور سره په ښه سلوك اوسيږه اويا هغې ته طلاق ورکړه نو دزيد اودهندې دپلار په مينځ کې جګړه جوړيږي اوهنده دپلار کور ته راځي، زيد دطلاقنامه اخيستلو دپاره منډه کړه اووايي چې طلاق نامه واخله زه يې درکوم، خلګ هغه نيسي، دوهمه ورځ زيد دکالو او زيوراتو مطالبه کوي، هنده ددرې څلورو مياشتو راهيسي بيله ده، آياپه دې صورت کې پرهندې باندې طلاق رجعي واقع سو اوعده سويده نوڅه به کوي، په دې صورت کې که چيرې هنده خلع کول غواړي نوڅه واجب راځي؟

ب: دچاچې ددرو مياشتودحمل په صورت کې اسقاط يااجواتې وينه ضربه وغيره دکرنك په شکل کې په رحم کې موجوده وي نوپه مسائل عده کې څه حکم لري؟

جواب: دغصې په حالت کې خالد قسم واخيستې چې که چيرې دانر غوايي په دولس (۱۲) روپۍ خرڅ کړم نوزما ښځه دې طلاقه وي دوهمه ورځ يې داغوايي په اتلس ۱۸ روپۍ خرڅ کړې، دخالد منکوحه غير مدخوله نابالغه په دې صورت کې څه حکم لري؟

جواب: په دې صورت کې به يوطلاق رجعي واقع سي اودعدې څخه وروسته رجوع صحيح نه ده البته نکاح جديد بغير دحلالې څخه کولی سي ([1]) اوخلع په طلاق رجعي کې دعدې دننه کولی سي او وروسته دعدې څخه خلع نه سي کولی. فقط

ب: اوپه حمل کې چې ترڅو پورې چې بعض اعضاء ښکاره نه وي نو ترهغه وخته پورې ددې په سقوط سره عده پوره کيدی نسي او احکام دولديت نه سي ورکول کيدی ([2])، په

([1]) وان كانت الطلاق بائنا دون الثلاث فله ان يتزوجها في العدة وبعد انقضائها (هدايه باب الرجعة ج۲ ص ۳۷۳).

([2]) وفي حق الحامل الخ وضع جميع حملها لان الحمل اسم لجميع مافي البطن وفي البحر خروج اكثر الولد كالكل الخ (درمختار) قوله لان الحمل علة لتقدير لفظ الجميع فلو ولدت وفي بطنها آخر تنقضي العدة بالاخر =

درمختار کی یی ویلی دی چی ظهور دخلقت داعضاؤ وروسته د (۱۲۰) ورځو څخه وي چی څلور میاشتی ویداوتحقیق ددی په کتابونو دفقه کی دی (۱). فقط

ج: په دی صورت کی دخالد ښځه مطلقه نه سوه لعدم وجود الشرط. فقط

کله چی دریم طلاق یاد نه وو نورجوع صحیح ده: **سوال**: (۸۵۰) دزید دوی بیبیانی دی په وجه دتکرار په حالت دغصه کی زید په یوه جلسه کی دواړو ته طلاق ورکړی او زید ته دوه واره طلاق ورکول ښه یاد وه، لیکن دریم وار طلاق ورکول ورته یاد نه دی لیکن دواړی بیبیانی یی وایي چی زید دباندی ولاړی په دریم وار یی طلاق ورکړی اوموږ واوریدی په دی صورت کی رجوع صحیح ده اوکه نه؟

جواب: په دی صورت کی که چیري زید ته ددوو طلاقو اقرار دی نوطلاق بلا شبهه واقع دی، او ددریم که چیري زید اقرار کوی نو دریم طلاق هم واقع سو اوپه دی حالت کی رجوع کول جائز نه دی اوبغیر دحلالی څخه زید ددی سره نکاح هم نه سی کولی اوکه چیري زید ته ددریم طلاق اقرار نسته نوصرف ددواړو ښځو په ویلو سره دریم طلاق نه ثابتیږی اوپه شبه سره هم طلاق نه ثابتیږی په دی حالت کی رجوع کول دعدی دننه بغیر دنکاح جدید څخه صحیح دی لقوله تعالی الطلاق مرتان (۲)، یعنی طلاق رجعی دوه طلاقه دی.

چی کله دریم طلاق ورکول خاوند ته یاد نه وی: **سوال**: (۸۵۱) یوسړی خپلی ښځی ته طلاق ورکړی اوپړي یې ښوده، څه موده دری یاڅلور کاله وروسته یی بیا ددی سره نکاح وکړه اوکورته یی راوسته نوبعضو اهل علمو اعتراض وکی چی که چیري دری طلاقه یی ورکړی وی نو دانکاح صحیح نه ده چی دهغه په جواب کی هغه سړی وایي چی چونکی زیاته موده تیره سویده ددی دپاره ماته یاد نه دی راغلی چی دوه طلاقه می ورکړی دی اوکه دری، نوددی متعلق څه حکم دی؟

جواب: اقول وبالله التوفیق په دی صورت کی ددی سړی پرښځی طلاق رجعی واقع سو او دعدی دننه بدون حلالی نکاح جدید دخاوند اولنی سره صحیح ده او وروسته دعدی څخه نکاح جدید بغیردحلالی څخه صحیح ده اوعده دطلاقودری حیضه دی اوپه صورت

= واذا اسقطت سقطا ان استبان بعض خلقة انقضت به العدة لانه ولد والا فلا (ردالمحتار باب العدة ج۲ ص ۸۳۱. ط. س. ج۳ ص ۵۱۱). ردالمحتار

(۱) وقالوا يباح اسقاط الولد قبل اربعة اشهر (درمختار) هل يباح الاسقاط بعد الحمل نعم يباح ما لم تتعلق منه شي ولن يكون ذالك الا بعد مائة وعشرين يوما (ردالمحتار باب نكاح الرقيق مطلب فی حكم اسقاط الحمل ج۲ ص ۵۲۲. ط. س. ج۳ ص ۱۷۶). ظفير

(۲) سورة البقرة ركوع : ۲۹. ظفير

مسئوله کی چونکی عده تیره سویدی لهذا خاوند اول ددی سره دوباره نکاح کولی سی په درمختارکی دی: ولوشك اطلق واحدة اواکثر بنی (۱) علی الاقل الخ، لیکن دشامی درایی رجحان دې طرف ته دی چي په صورتِ مسئوله کي احتیاطاً ددرو طلاقو حکم ورکول کیږي (۲)، اوبغیر دحلالی څخه داول خاوند سره نکاح کول صحیح کول نه دی په کار. فقط

نهم باب

دخلع متعلق احکام اومسائل

فارغ خطی دخلع معنٰی ده او ددی سره طلاق بائن واقع کیږی: **سوال**: (۸۵۲) که چیري چا خپلی ښځی ته ته دا وویل چی ما تاته فارغ خطی درکړه نو په دی سره شرعًا طلاق رجعی کیږی اوکه نه بائن؟

جواب: لفظ دفارغ خطی دمباراة ترجمه یا ددی هم معنٰی دی اودا الفاظ دخلع نه دی چی قبول والی یې پر ښځی باندی موقوف دی اوپه دی کی طلاق بائن واقع کیږی لکه چی څنګه په درمختار باب الخلع کی دی: هو ازالة ملك النکاح المتوقفه علی قبولها بلفظ الخلع اوما فی معناه لیدخل لفظ المباراة فانه مسقط (۳) الخ وحکمه ان الواقع به الخ طلاق بائن قوله ان الواقع به ای بالخلع ولو بلفظ البیع والمباراة بحر شامی (۴)، اوکه چیري لفظ دفارغ خطی استعمال صرف په طلاقو کی وي نو بیا هم په دی لفظ سره طلاق بائن واقع کیږی ځکه چی دا لفظ په جداوالی اوقطع تعلق باندی دلالت کوی چی په طلاق بائن کی وی. فقط

دخاوند سره دنه جوړیدو په صورت کی خلع کول ښه دی: **سوال**: (۸۵۳) دیوی ښځی خاوند نه نان او نفقه ورکوی اونه مهر ورکوی اودمهر ډګری هم عدالت کړی وه مګر په وجه دمفلسی وصول نه سوه، اوس هغه ښځه مجبوره سوه داغواړی چی عدالت ته چاره جویی ددې خبری وکړی چی دمهر معجل په عوض کی خلع وکړي او دخاوند سره څه تعلق پاته نه سی.

جواب:په صورت دناموافقت زوجینوته دا ښه ده چی خلع وسی لیکن په خلع کی رضامندی

---

(۱) الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب الصریح ج۲ ص ۲۲۳. ط. س. ج۳ ص ۲۸۳. ظفیر
(۲) وعن الامام الثانی اذا کان لا یدری اثلاث ام اقل یتحری وان استویا عمل باشد ذالك علیه الخ ولعله لانه یعمل باحتیاط خصوصا فی باب الفروج (ردالمحتار باب ج۲ ص۲۲۴. ط. س. ج۳ ص ۲۸۳). ظفیر
(۳) الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب الخلع ج۲ ص ۷۶۶ – ۷۶۷. ط. س. ج۳ ص ۴۳۹ – ۴۴۱. ظفیر
(۴) وګوری: ردالمحتار باب الخلع ج۲ ص ۷۷۰. ظفیر

دزوجینو ضروری ده ښځه په خپله غواړي اوپه خلع راضی ده سړی هم راضی کول په کار دی که چیري هغه په عوض دمهر خلع وکړی نو خلع به وسی اوښځه به دده دقید دنکاح څخه به ووزی، نو خاوند پوه کول په کار دی یاپه ذریعه دحاکمانو دی مجبوره سی چی هغه خلع وکړی (۱). فقط

په ذریعه دخلع طلاق حاصلول جائز دي: **سوال**: (۸۵۴) یوسړی خپله ښځه ډیره مجبوره کړیده اوبد معاش سړی دی اونه نان اونفقه ورکوی نه خبر ګیری کوی نوداسی ښځی ته طلاق اخیستل په طور دخلع پکاردی اوکه نه؟ که هغه په دی هم طلاق ورنه کړی نو حاکم وقت ته دا ووایي او جبراً طلاق اخیستلی سی اوکه نه؟

جواب: دحنفی مذهب موافق په دی صورت کی بغیر دطلاق ورکولو دخاوند جلاوالی نه سی کیدلی البته خلع کیدلی سی، دخلع صورت دادی چی ښځه مثلاً مهر معاف کړی او خاوند طلاق ورکړی، اوحاکم وقت که جبراً دخاوند څخه طلاق واخلی نو داصورت هم کیدلی سی طلاق به واقع سی، ځکه چی داحنافو په نزد په اکراه سره به هم طلاق واقع سی کما صرح به الفقهآء کذا فی الدرالمختار (۲). فقط

دطلاق بائن څخه وروسته خلع صحیح نه ده: **سوال**: (۸۵۵) دطلاق بائن څخه وروسته که چیري یی خلع وکړه نوصحیح به وی اوکه نه؟ اودا خلع به دریم طلاق وی اوکه نه؟

جواب: په کتب دفقه کی تصریح ده چی، لا یلحق البائن البائن (۳). نو فلهذا دطلاق بائن څخه وروسته به خلع صحیح نه وی اوددی سره به طلاق نه واقع کیږی، وفی الدرالمختار خرج به الخلع فی النکاح الفاسد وبعد البینونة، والردة فانه لغو کذا فی الشامی (۴).

دخلع څخه وروسته تیره سوی نان اونفقه باقی نه پاته کیږی: **سوال**: (۸۵۶) یوی ښځی منکوحي دخپل خاوند څخه په عوض دمهرشرعی بالمقطع تریو سر ګامیښی کم مالیت واخیستی اوپه خپلی رضامندی سره یی خلع وکړه اوګامیښه یی واخیسته اودخپل دخور دخاوندسره ولاړه اوس ښځه مذکوره په ملاتړ دمخالفینو پرخاوندباندی په عدالت

---

(۱) واذا تشاق الزوجان وخافا ان لایقیما حدود الله فلاباس بان تفتدی نفسها منه بمال یخلعها به الخ فاذا فعل ذالك وقع بالخلع تطلیقة بانت ولزمها المال الخ (هدایه باب الخلع ج۲ ص۳۸۳) وتجب الطلاق لو فات الامساك بالمعروف (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار کتاب ج۲ ص۵۷۲، ط.س. ج۳ ص۲۲۹). ظفیر

(۲) ویقع طلاق کل زوج بالغ عاقل الخ ولوعبدا اومکرها فان طلاقه صحیح (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار کتاب الطلاق ج۲ ص ۵۷۹. ط. س. ج۳ ص ۲۳۵) واذا تشاق الزوجان وخافا ان لا یقیما حدود الله فلاباس ان تفتدی نفسها منه بمال یخلعها به (هدایه باب الخلع ج۲ ص ۳۸۳). ظفیر

(۳) الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب الکنایات ج۲ ص ۶۴۲. ط. س. ج۳ ص ۳۰۸. ظفیر

(۴) ایضا باب الخلع ج۲ ص ۷۶۶. ظفیر

کی دنان اودنفقی دعویداره ده اوخاوند په وجه دخلع کیدلو دنان اونفقه ورکولو څخه قطعی انکاری دی نوپه دی صورت کی شرعًا څه حکم دی؟

جواب: په درمختار کی دی، ویسقط الخلع الخ والمباراة کل حق ثابت وقتها لکل منهما علی الاخر مما یتعلق بذالك النکاح الخ الا نفقة العدة وسکناها فلا یسقطان الا اذا نص علیها الخ (۱)، ددی عبارت څخه واضحه سوه چی دښځی دعوٰی دگذشته زمانی دنفقې صحیح نه ده ځکه چی په خلع سره تیره سوی نفقه ساقطیږی اوپه صورت مسئوله کی خلع صحیح ده لهذا نفقه هم ساقطه ده، البته دعدی نفقه بې له تصریح کولو نه ساقطیږی نوپه صورت مسئوله کی ښځه دعدی دنفقی دعوه کولی سی او دتیری سوی زمانی دنکاح دحالت دنفقی دعوه نه سی کولی. فقط

<u>دخاوند درضاء څخه خلاف خلع نسته</u>: **سوال**: (۸۵۷) یوسړی خپلی ښځی ته قسم قسم تکلیفونه ورکوی اوداسی ناجائز خواهش لری چی په هغه سره غریبه ښځه په هرحال انکاری ده، حتٰی چی په حالت دحیض کی مقاربت غواړی چی په هغه سره هغه انکار کوی نو په دی وجه باندی هغه سخته وهی اوټکوی، نو ددغو وجوهاتو دوجه څخه ښځه دخاوند کورته تلل نه غواړی اوخاوند طلاق هم نه ورکوی اوس ددی انکار کول دخاوند دکور تللو څخه بی ځایه دی اوکه نه پرخپل ځای؟ نوکه چیري خاوند طلاق نه ورکوی نو په حاکم وقت سره خلع کولی سی اوکه نه؟ که چیري خلع کولی سی نودمهر ددین دعوٰی کولی سی اوکه نه؟

جواب: دښځی دخپل خاوند کورته نه تلل په وجه دبی ځایه تکلیف وررسولو اوناجائزو حرکتونو جائز اوبا موقع دی، لیکن خلع بغیر درضامندی دخاوند څخه نسی کیدی او دخلع څخه وروسته مهر وغیره ساقطیږی. فقط

<u>جبرًا په خلع سره هم طلاق بائن واقع کیږي</u>: **سوال**: (۸۵۸) دعمر دنابالغی لور هنده دزید سره نکاح وسوه لږ ورځی وروسته عمر دخپلی نابالغی لور دزوج زید سره خلع کول وغوښتل، خوزید انکار وکی لیکن عمر اوڅو کسانو په زید جبرًا خلع وکړه اودایی ولیکل چی ما دهنده نابالغه منکوحه لور دعمرسره خلع وکړه اوماته یی دمهر دین معاف کړی نو په دی صورت کی خلع وسوه اوکه نه؟

جواب: قال فی الدرالمختار خلع الاب صغیرة بمالها اومهرها طلقت فی الاصح ولم یلزم المال الخ ای لا علیها ولا علی الاب الخ (۲)، شامی ج۲ ص**۵۲۸**، حاصل ددی دا دی چی

---

(۱) الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب الخلع ج۲ ص۷۷۷ – ۷۷۸، ط.س. ج۳ ص**۴۵۲**. ظفیر

(۲) واذا تشاق الزوجا وخافا ان لایقیما حدود الله فلاباس بان تفتدی نفسها بمال یخلعها به الخ فاذا فعل ذالك =

که پلار دصغیری دطرف څخه په عوض ددی دمال یا ددی دمهر کی یې خلع وکړه نو په دی باندی به طلاق بائن واقع سی او مال به پرهیڅچا لازم رانه سی اومهر نه ساقطیږی، نو داجواب ددی مسئلی دی. فقط

دښځی څخه په زبردستی سره دزرو روپو په اقرار سړی خلع وکړه، نوڅه حکم دی؟ سوال:
(**۸۵۹**) زید دخپلی منکوحه هنده سره په مبلغ دزرو روپو باندی خلع وکړه هرڅومره چی هنده په ښکاره طور باندی دروپو دورکولو څخه انکار وکی خو زید هندی ته دتحذیر او تخویف سره اقرار دروپو وکی نوپه موجب دشریعت نکاح باطله ده اوپه تقدیر دانفکاك دنکاح سره روپی پرهنده باندی واجب الاداء دی اوکه نه؟

جواب: په دی صورت کی خلع صحیح ده اوپر ښځی یوطلاق بائن واقع سو اودښځی پر ذمه باندی زر روپی لازمی نه دی په درمختار کی دی: اکرهها الزوج علیه تطلق بلامال لان الرضا شرط للزوم المال وسقوطه ([1])، اوپه ردالمحتار کی دی، قوله علیه ای علی الخلع منح ای علی ان تقول له خالعنی وفی البحر علی القبول ای اذا کان هو المبتدی بقوله خالعتك فافهم قوله تطلق ای بائنا ان کان بلفظ الخلع ورجعي ان کان بلفظ الطلاق علی مال کما مر ویاتی، قوله شرط للزوم المال ای علیها وهو البدل المذکور فی الخلع قوله وسقوطه ای عن الزوج وهو المهر الذی علیه ([2])، او دښځی مهر چې دخاوند پرذمه دی ساقط به سی، په درمختار کی دی، ویسقط الخلع الخ والمباراة الخ کل حق الخ لکل منهما علی الآخر مما یتعلق بذالك النکاح ([3]). فقط

فارغ خطی دکمو اسبابو پربنیاد حاصلول صحیح دی: سوال: (**۸۶۰**) ښځه دخپل خاوند څخه په کمو کمو وجوهو سره شرعًا فارغ خطی حاصلولی سی؟

جواب: کله چی موافقت نه وی اودیو بل حقوق اداء نه سی نوجائز ده چی دخاوند څخه طلاق واخلی که هغه بلا معاوضی داخیستلو څخه طلاق نه ورکوی نوڅه معاوضه دی ورکړی اوطلاق دی واخلی یادی خلع وکړی اودده څخه دی خپل ځان خلاص کړی بغیر دخلع اویا دطلاق څخه ښځه دده دنکاح څخه وتلی نه سی اوقصور که چیري دسړی وی نوسړی ته څه معاوضه اخیستل مکروه دی ([4]).

= وقع بالخلع تطلیقة بائنة الخ والمباراة کالخلع کلاهما یسقطان کل حق لکل واحد من الزوجین علی الاخر مما یتعلق بالنکاح عند ابی حنیفة (هدایه باب الخلع ج۲ ص۳۸۳ – ۳۸۷). ظفیر

([1]) الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب الخلع ج۲ ص ۷۸۲. ط. س. ج۳ ص ۴۴۲. ظفیر

([2]) ردالمحتار باب الخلع ج۲ ص ۷۷۲. ط. س. ج۳ ص ۴۴۲. ظفیر

([3]) الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب الخلع ج۲ ص ۷۷۸. ط. س. ج۳ ص ۴۵۲. ظفیر

([4]) ولاباس به عند الحاجة للشقاق بعدم الوفاق بما یصلح للمهر الخ وکره تحریما اخذ شيء الخ ان نشز وان نشزت =

دخلع کاغذ دفریقینو په مرضي سره ولیکل سو نو خلع وسوه، اوددي په څېړولو سره خلع نه ختميږي: **سوال**: (۸۲۱) دزوجينوپه خپل مينځ کی دناچاقی له امله په دواړوکی داګفتګو وسوه چی اوس په موږ کی څه صورت دګذاری اواتفاق په خپل مينځ کی نسته، خاوند وويل چی طلاق نامه ليکو اوښځی وويل چی زه دمهر دمعافی کاغذ ليکم چنانچی دواړو دا کاغذات وليکل، ددی دليکلو څخه وروسته دخاوند مشر ورور راغی ده ته دواړو واقعه بيان کړه چی په موږ دواړو کی داتفاق اودګذران صورت نه وو، نوددی وجه موږ په خپل مينځ کی خلاصون کړيدی، دخاوند مشر ورور دی دواړو ته بد رد وويل او ددواړو څخه يی کاغذ څيري کی نوآيا په دی صورت کی خلع وسوه اوکه نه؟ اوطلاق واقع سو اوکه نه؟

جواب: دښځی او دخاوند په خپل مينځ کی خلع وسوه اوخلع طلاق بائن وی اوکله چی تحرير دخلع دطرفينو څخه وسو اوخاوند دطلاقو کاغذ وليکی اوښځی دمهر دمعافی کاغذ وليکی اودمشر ورور دخاوند مخ ته يی داتقرير وکی چی زموږ خاوند اوښځی په مابين کی دګذاری څه صورت نه وو نولهذا موږ خلاصون وکی نوخلع پوره سوه اوطلاق بائن پرښځی باندی واقع سو اومهر ساقط سو (۱) بيا دمشر ورور دخاوند په بد رد ويلو سره که هغه ددواړو کاغذ څيری کړی نو ددی څه اثر دخلع پرجائز کيدو باندی نه پريوزی اوخلع نه باطليږی حاصل داچی مذکوره ښځه دخاوند دنکاح څخه خارجه سوه اوطلاقه سويده دعدی په تيريدو سره هغه دوهمه نکاح کولی سی هکذا فی کتب الفقه. فقط

خلع دخاوند درضامندی څخه بغير نسی کيدی: **سوال**: (۸۲۲) دزيد زوجه يعنی منکوحه که دزيد څخه په وجه دتکليف دنان اونفقه ياپه وهلو اوټکولو څخه بلا ضرورت ياطبعًا ناراضه اومتنفره وی اوپه هيڅ شان سره دزيد په نکاح کی پاته کيدل نه غواړی چی خپل مهر معاف کړی طلاق غواړی اوخاوند ددی سره دضد دوجه څخه طلاق نه ورکوی او ايذاء رسانی په عمل کی راولی، نو په داسی صورت کی دغه منکوحه ښځه شرعًا دنکاح دقيد څخه ازادی حاصلولی سی اوکه نه؟ اودښځی اولاد چی دصاحب دزيد څخه په عمر

= لا (درمختار) قوله للشقاق ای لوجود الشقاق وهو الاختلاف والتخاصم وفی القهستانی عن الشرح الطحاوی السنة اذا وقع بين الزوجين اختلاف ان يجتمع اهلهما ليصلحوا بينهما فان لم يصلحا جاز الطلاق والخلع اهـ (ردالمحتار باب الخلع ج۲ ص ۷۲۷. ط. س. ج۳ ص ۴۴۱). ظفير

(۱) کتب الطلاق ان مستبينا على نحو لوح وقع ان نوی وقيل مطلقا (درمختار) المراد به فی الموضعين نوی اولم ينو الخ ولو قال للكاتب اكتب طلاق امراتی كان اقرارا بالطلاق وان لم يكتب (ردالمحتار كتاب الطلاق ج۲ ص ۵۸۹. ط.س. ج۳ ص ۲۴۲) وحكمه ان الواقع به الخ وبالطلاق الصريح على مال طلاق بائن (الدرالمختار على هامش ردالمحتار باب الخلع ج۲ ص ۷۷۰. ط. س. ج۳ ص۴۴۲). ظفير

دیو نیم کال وو هغه به زید ته حواله کول کیږی اوکه نه ښځی ته؟

جواب: داصورت دخلع دی چی ښځه خپل مهر معاف کړی اوخاوند طلاق ورکړی، په داسی حالت کی چی په خپل مینځ کی په ښځه او خاوند کی نفرت دی داضروری ده چی خلع وسی خوکه خلع وی اوکه طلاق دخاوند درضامندی څخه بغیر څه نسی کیدی او شرعًا داسی څه صورت نسته چی بغیر دطلاق ورکولو څخه خاوند یابغیر دخلع کولو سره ښځه دده دنکاح څخه ووزی نوچی په هره طریقه سره وی خاوند به مجبوره کړی چی خلع وکړی اویا طلاق ورکړی اوکه خاوند دا نه منی نوپه ذریعه دحاکم دي داسی وکړی یعنی حاکم دی خاوند مجبوره کړی چی یا خو هغه نان اونفقه ورکړی اودښځی خبر گیری دی وکړی اوکه نه وی نوخلع دی وکړی اویادی طلاق ورکړی هکذا فی کتبه الفقه (۱).

دخاوند دقبلولو څخه وروسته خلع کیږی: **سوال**: (۸۲۳) یوه ښځه دخپل خاوند دسختیا په وجه دخاوند څخه تقریبًا دیوولسو کالو څخه جلاده، خاوند ته ددی دنان اودنفقی هیڅ څه فائده نسته اوښځه دخپل مور اودپلار په کور کی اوسیږی هغې خپل خاوند راوبولی په مخ کي ددوو شاهدانو یی دا الفاظ وویل چی زه په عوض د، اتو سوو ۸۰۰ روپو دخپل مهر دین چی ستا پرذمه واجب الاداء دی ستا سره خلع کوم دنن تاریخ څخه زما ستا سره څه تعلق نسته اودعدی دایامو ستا سره څه تعلق نسته اودعدی دایامو څخه وروسته ماته اختیار دی چی خپله نکاح ددوهم سړی سره وکړم، خاوند دا الفاظ په پوره طور باندی واوریدل اوپه غور یی دیته وکتل، بار بار یې ددوی څخه پوښتنه وکړه چی اوس تاته خو به زما څخه څه دعوٰی نه وی نوښځی جواب ورکی چی نه اوس زماڅه تعلق ستاسره سته اونه څه دعوی به وی خاوند چی دا واوریدل نوخپل ځای ته چی تقریبًا دولس قوسه دی ولاړی، نو آیا داخلع وسوه اوکه نه؟ اودعدی دایامو څخه وروسته ښځه دبل چاسره نکاح کولی سی اوکه نه؟

جواب: دخاوند قبلول دخلع په سوال کی ذکر نه دی اوصرف داویل دخاوند چی اوس به تاته څه دعوٰی خو به زما څخه نه وی نوداتمهید وو دقبلولو نوکه چیري ددی څخه وروسته خاوند په دی مجلس کی داویلی وی چی ماقبوله کړه یاماته منظوره ده نوخلع به پوره سوی وی، نو صرف په دومره بیان سره چی په سوال کی ذکردی خلع ونه سوه او ښځی ته دوهمه نکاح کول صحیح نه دی، کمافی الدرالمختار قوله فصح رجوعها قبل قبوله ای اذا کان الابتداء منها بان قالت اختلعت نفسی منك بکذا فلها ان ترجع عنه قبل

(۱) ویجب ای الطلاق لوفات الامساك بالمعروف (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار کتاب الطلاق ج۲ ص ۵۷۲. ط. س. ج۳ ص ۲۲۹). ظفیر

قبول الزوج ویبطل بقیامها عن المجلس وبقیامه ایضا ولایتوقف علی ما ورآء المجلس بان کان الزوج غائبا حتی لوبلغه وقبل لم یصح ([1]) الخ. فقط

بغیر دطلاق اودخلع ښځه دوهمه نکاح جائز نه ده: سوال: (۸۲۴) زید خپلی ښځی هنده ته ددولسو کالو ښځه راپه دی خوا نان نفقه اوجامه نه ورکوی، اونه په خلع باندی رضا مندی ظاهروی نه طلاق ورکوی هنده دمال او نفقه دعوه په عدالت کی وکړه هغه خارج سوه، هنده غواړی چی خلع وسی اوکه نه وی نوطلاق دی ورکول سی ددی دپاره چی دوهمه نکاح وکړی؟

جواب: دزید ښځه دي یاطلاق واخلی یادی خلع وکړی، بدون ددی هنده دده دنکاح ښځه نسی خارجیدی اودوهمه نکاح دهندی به صحیح نه وی ([2]).

خلع بغیر دخاوند درضامندی نسی کیدی: سوال: (۸۲۵) خالد چی دهندی خاوند دی دخاوند والی دنه کیدو په وجه سره دهندی سره په بی رحمی طریقی سره دزندگی په میدان کی مخ ته راځی اوددنیوی شرم په وجه سره طلاق هم نه ورکوی نوکه په داسی حالت کی که هنده دعوٰی دخلع وکړی نوددوهم خاوند سره نکاح کولی سی اوکه نه؟ او دمهر دپیدا کولو مستحقه ده اوکه نه؟

جواب: طلاق اوخلع بغیر درضاء دخاوند ښځه نسی کیدی ([3]) نوکه چیري خاوند طلاق ورکړی یاخلع وکړی نو په هرو دواړو صورتونو کی وروسته دانقضاء دعدی ښځه هنده دبل سړی سره عقد ثانی کولی سی اوکه چیري خاوند وطی کړی وی نوپوره مهر لازمیږی ([4]) لیکن په خلع کی مهر ساقطیږی ([5]).

نابالغه دولی په ذریعه خلع کولی سي: سوال: (۸۲۶) هنده نابالغه په ولایت دخپل پلار عمر دخپل خاوند سره چی بالغ دی په معافی دمهر سره خلع کول غواړی داصورت دخلع جائز دی اوکه نه؟ اودخاوند دذمې ښځه مهر ساقطیږی اوکه نه؟

([1]) ردالمحتار باب الخلع ج۲ ص ۷۶۹. ط. س. ج۳ ص ۴۴۲. ظفیر

([2]) واما نکاح منکوحة الغیر ومعتدته الی قوله لم یقل احد بجوازه فلم ینعقد اصلا (ایضا باب العدة ج۲ ص ۸۳۵. ط. س. ج۳ ص ۵۱۶). ظفیر

([3]) الحدیث ابن ماجه الطلاق لمن اخذ بالساق (درمختار) کنایة عن ملك المتعة (ردالمحتار کتاب الطلاق جواب: ۲ ص ۵۸۵). ظفیر

([4]) ویتاکد المهر عند وطی اوخلوة صحت من الزوج (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب المهر ج۲ ص ۴۵۴. ط. س. ج۳ ص ۱۱۸) . ظفیر

([5]) وسقط الخلع الخ کل حق لکل منهما علی الاخر مما یتعلق بذالك النکاح (درمختار) قوله کل حق شمل المهر والنفقة المفروضة الخ (ردالمحتار باب الخلع ج۲ص ۷۷۷. ط. س. ج۳ ص ۵۴۲). ظفیر

جواب: مذکوره خلع شرعا جائز ده اودخاوند دذمه څخه مهر ساقطیږی، ویسقط الخلع والمباراة الخ کل حق لکل منهما علی الآخر مما یتعلق بذالك النکاح الخ درمختار ملخصًا (۱). فقط

دنابالغ خاوند سره دخلع څه صورت نسته: **سوال**: (۷۲۷) دهندی نابالغی عقد دبکر نابالغه سره وسو خو هنده اوس بالغه سوه اوبکر نابالغ دی نوهنده دده سره خلع کولی سی اوکه نه؟ اوبکر طلاق ورکولی سی اوکه نه؟ که چیري نه سی نو دده ولی طلاق ورکولی سی اوکه نه؟ اوخلع کولی سی اوکه نه؟

جواب: دنابالغ طلاق اوخلع دواړه باطل دی نه هغه طلاق ورکولی سی اونه هغه خلع کولی سی اونه دده ولی دده دطرف څخه طلاق ورکولی سی اونه خلع کولی سی نوکه چیري بعد البلوغ بکر وغواړی نو خلع دی وکړی اویا دی طلاق ورکړی، قبل دبلوغ څخه دبکر هیڅ هم نه سی کیدی (۲). فقط

دولی داجازی څخه بغیر خلع: **سوال**: (۸۲۸) وفی ردالمحتار باب الخلع قوله وکذا الکبیرة الخ ای اذا خلعها ابوها بلا اذنها فانه لایلزمها المال بالاولی لانه کالاجنبی فی حقها وفی الفصولین اذا ضمنه الاب اوالاجنبی وقع الخلع ثم اجازت نفذ علیها وبرئ الزوج من المهر والا ترجع به علی الزوج والزوج علی المخالع وان لم یضمن توقف الخلع علی اجازتها فان اجازت جاز وبرئ الزوج عن المهر والا لم یجز، قال فی الذخیرة ولا تطلق وقال غیره ینبغی ان تطلق لانه معلق بالقبول وقد وجد الخ ای یقول المخالع، وفی البزازیة وان لم یضمن توقف علی قبولها فی حق المال قال هذا دلیل علی ان الطلاق واقع وقیل لایقع الا باجازتها الخ انتهٰی (۳)، یعنی که چیري بغیر داجازت څخه پلار دبالغی په عوض دمهر دکبیری دخاوند سره خلع وکړی نوطلاق واقع کیږی اوکه نه؟ په ذخیره اوپه نورو کتابونو دفقه کی دی چی طلاق نه واقع کیږی اوپه بزازیه کی واقع کیدل دطلاقو ذکر دی نو فتوٰی به په کم قول ورکول سی یعنی په وقوع د طلاق او که په

---

(۱) الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب الخلع ج۲ ص۷۷۷، خلع الاب صغیرته بمالها اومهرها طلقت فی الاصح کما لو قبلت هی وهی ممیزة ولم یلزم المال لانه تبرع (درمختار) قوله لم یلزم المال ای لاعلیها (لاعلی الاب علی قول ابن سلمه وعنه یلزمه وان لم یضمن، جامع الفصولین اما اذاضمنه فلا کلام فی لزومه علیه (ایضا باب الخلع ج۲ ص ۷۸۲. ط. س. ج۳ ص ۴۵۷). ظفیر

(۲) لایقع طلاق المولی علی امراة عبده الخ والصبی ولومراهقا اواجازه بعد البلوغ (الدرالمختار علی هامش رد المحتار کتاب الطلاق ج۲ ص۵۸۲. ط. س. ج۳ ص۲۴۲) وشرطه ای الخلع کالطلاق (درمختار) وهواهلیة الزوج (ایضا باب الخلع ج۲ ص ۷۶۸. ط. س. ج۳ ص۴۴۱). ظفیر

(۳) وګوری ردالمحتار باب الخلع مطلب فی خلع الصغیرة ج۲ ص ۷۸۲. ط. س. ج۳ ص ۴۵۷. ظفیر

عدم دوقوع دطلاق؟

جواب: واقع کيدل دطلاقو په دی صورت کی ښه دی، کما قال فی موضع آخر حاصله انه فی الصغيرة لايلزم المال مع وقوع الطلاق (۱) شامی قوله طلقت فی الاصح وقيل لاتطلق لانه معلق بلزوم المال وقد عدم ووجه الاصح انه معلق بقبول الاب وقد وجد بزازيه (۲)، ردالمحتار ج۲ ص۵۲۸. فقط

پلار خلع وکړه اوخاوند طلاق ورکی مګر ښځی قبول نه کی، نوځه حکم دی؟ سوال: (۸۶۹) که چيري دښځی پلار خپل زوم ته ووايي چی زه تا لره هغه هغه کالی اوزيورات چی تا ورکړيدی تاته هغه بيرته درکړم بلکی يونيم سل روپی به نوری هم تاته درکړم ته زما لور ته طلاق ورکړه نوپلار دښځی مذکوره زيورات اويونيم سل روپی زوم ته حواله کړی، زوم وويل چی زه دفلانی لور ته دری طلاقه ورکوم نو په دی صورت کی طلاق بلاقبول دښځی واقع کيږی اوکه نه؟

جواب: په دی صورت کی طلاق واقع سو اودا طلاق په مال سره دی اوبائن دی اوقبول دښځی شرط دپاره دوقوع دطلاق نه دی، کما مر فی المسئلة الاولی فان خلعها الاب علی مال ضامنا له ای ملتزما لا كفيلا لعدم وجوب المال عليها صح والمال عليه كالخلع من الاجنبی فالاب اولی (درمختار) قوله كالخلع من الاجنبي ای الفضولي وحاصل الأمر فيه أنه إذا خاطب الزوج فإن أضاف البدل إلی نفسه علی وجه يفيد ضمانه له أو ملكه إياه كاخلعها بألف علي أو علی أني ضامن أو علی ألفي هذه أو علیٔ عبدي هذا ففعل صح والبدل عليه شامی (۳).

دمهر په عوض کی خلع سويده نو خاوند ورکول سوی مهر بيرته اخيستی سی؟ سوال: (۸۷۰) که چيري ښځه قبول دخلع په بدل دمهر کی وکړی نو ددغه باقی مهر به پردی قرض وی اوکه نه؟ اوخاوند دخلع څخه مخکی چی بعض مهر ورکړی دی خپلی ښځی ته نو رجوع کولی سی اوکه نه؟ اوددی لاندينی عبارت څه مراد دی: قال الشامی ناقلا عن البحر قال وقد ظهر لی ان محل البرأة ما اذا خالعها بعد دفع المعجل فانها براء عن المعجل ويبرء هو عن المؤجل ولذا قال فی المحيط الصحيح انه يسقط المهر وماقبضت المراة فهو لها وما بقی فی ذمته يسقط (٤) الخ قال فی الفتاوٰی الخيرية لايرجع به ای بالمقبوض علی الصحيح.

---

(۱) ردالمحتار باب الخلع ج۲ ص ۷۸۳. ط. س. ج۳ ص ۴۵۷. ظفير

(۲) ردالمحتار باب الخلع مطلب فی خلع الصغيرة ج۲ ص ۷۸۲. ط. س. ج۳ ص ۴۵۷. ظفير

(۳) ايضا مطلب فی خلع الفضولی ج۲ ص ۷۸۲. ط. س. ج۳ ص ۴۵۸. ظفير

(۴) ردالمحتار باب الخلع ج۲ ص ۷۸۴. ط. س. ج۳ ص ۴۵۹. ظفير

جواب: هغه عبارت چی شامی دبحر څخه نقل کړیدی نوهمدغه رکم صحیح دی اوهغه دمهر څه حصه چی دخلع څخه یی مخکی ښځی ته ورکړیده نورد کول به نه کوی اوهغه حصه دمهر چی پرذمه دخاوند باقی ده هغه ساقطه سوه، نومعلومه سوه چی دخلع څخه وروسته پرذمه دخاوند هیڅ شی باقی نه دی پاته، که چیري وغواړی نوهغه به هبه شمارل کیږی اوکه چیري یی موانع درجوع نه کړه پیدا نورجوع کولی سی ([1]). فقط

په خلع کی یی چی طلاق ورکی نو په دی سره کم یو طلاق واقع سو؟ سوال: (۸۷۱) عطاء محمد دخپلی ښځی مسماة په جمی سره په عوض دپنځوسو روپو زرو په مهر سره خلع وکړه اومذکوری مسماة ته یی طلاق ورکی، نو په دی صورت کی کم قسم طلاق واقع سو؟

جواب: په دی صورت کی طلاق بائن پرمسماة جمی چی دعطاء محمد ښځه ده. واقع سوی دی ([2]).

پریږدم دي هرچیري چی زړه دی غواړی ولاړه سه، په دې ویلو سره طلاق بائن واقع کیږي:

سوال: (۸۷۲) یوسړی دخپلی ښځی څخه مال واخیستی اوفارغ خطی یی ولیکله چی په هغه کی دا الفاظ درج دی چی زه مسماة فلانی پریږدم اوچی کم ځای ددی زړه غواړی ولاړه دی سی، نوطلاق واقع سو اوکه نه؟

جواب: که چیري خاوند په نیت دطلاقو دا الفاظ ویلی وی نو طلاق بائن واقع سو، او چونکی خاوندی په دی فارغ خطی باندی مال اخیستی نو ددی دپاره وقوع دطلاق اغلب ده نوکه چیري خاوند دامنعه کړی نو دوباره دی نکاح وکړی ([3]).

که چیری ښځه جلا والی غواړی نوڅه کول په کاردي؟ سوال: (۸۷۳) یو سړی پرخپله ښځه باندی ظلم اوزیاتی وکی ښځه ملَك (خان) ته راغله اوفریاد یی وکی چی زموږ په مینځ

([1]) قال الزوج خالعتك فقبلت المرأة ولم يذكرا مالا طلقت لوجود الايجاب والقبول وبرى عن المهر الموجل لوكان عليه والا لم يكن شيئا ردت عليه ما ساق اليها من المهر المعجل لما مر انه معاضة (درمختار) قال فی البحر وظاهر اول العبارة ان المهر اذا كان مقبوضا فلا رجوع له وصريح آخرها الرجوع وبه صرح فی الخانية فحينئذ لم يبرا كل منهما عن صاحبه وقد ظهر لی ان محل البراءة ما اذا خالعها بعد دفع المعجل فانها تبرا عن المعجل ويبرأها عن الموجل ولذا قال فی المحيط الصحيح انه يسقط المهر ما قبضت المراة فهو لها وما بقی فی ذمته يسقط اھ (ردالمحتار باب الخلع ج۲ ص ۷۸۴. ط. س. ج۳ ص ۴۵۹). ظفير

([2]) وقع طلاق بائن فی الخلع رجعی فی غيره (درمختار) قوله بائن فی الخلع لانه من الكنايات الدالة على قطع الوصلة فكان الواقع به بائنا (ردالمحتار باب الخلع ج۲ ص ۷۷۲. ط.س. ج۳ ص ۴۴۲). ظفير

([3]) فاذا فعل ذالك وقع بالخلع تطليقة بائنة ولزمها المال لقوله ﷺ الخلع تطليقة بائنة ولانه يحتمل الطلاق حتی صار من الكنايات والواقع بالكنايات بائن (هدايه باب الخلع ج۲ ص ....). ظفير

کی جلاوالی اوقطع تعلق وکړه نوپه دی صورت کی څه حکم دی؟ ددی قسم فیصلی په شان یوه فیصله دخوړ نبی کریم ﷺ په زمانه کی هم سویده اوکه نه؟
جواب: په دی صورت کی په رضا مندی دخاوند اودښځی خلع کیدی سی اوخلع درسول الله ﷺ په زمانه کی هم سویده اودخلع څخه ماسوا بل څه صورت دفیصلی نسته ([1]).

دچا څخه چی روپی واخلی اودخاوند څخه یی خلع حاصل کړه ددی سره نکاح جائز ده:

سوال: (۸۷۴) هندی ته زید ددی دپاره روپی ورکړی چی هغه دخپل خاوندسره خلع وکړی پردی بناء باندی هندی دزید څخه روپی واخیستی او خلع یی وکړه او عده یی تیره کړه دزید سره یی نکاح وکړه، نونکاح وسوه اوکه نه؟
جواب: نکاح وسوه شرطونه دصحت دنکاح پیدا سوه، فان خالعها الاب علی مال ضامنا له ای ملتزما فلا لعدم وجوب المال علیها صح والمال علیه کالخلع مع انه اذا خاطب الزوج فان اضاف البدل الی نفسه علی وجه یفید ضمانه له اوملکه ایاه کان خلعها بالف علی الخ ففعل صح ([2]). نوکله چی پردی سړی دخپل طرف څخه مال ورکی دخاوند سره خلع کولی سی بلا امر اوقبول دزوجې نوکله چی ښځه په خپله داسی وکړی چی دبل سړی څخه مال واخلی دخپل خاوند سره خلع وکړی په درجه اولی سره صحیح ده اوکله چی خلع صحیح سوه اوخلع طلاق دی نو بعد انقضاء العده نکاح صحیح سوه.

خاوند ته په عوض دخلع کی څومره رقم اخیستل جائزدی: **سوال:** (۸۷۵) ښځه دزید غوښتونکی دخلع ده خاوند ته څومره اندازه رقم اخیستل جائز دي؟
جواب: فقهاؤ په دی باره کی داتفصیل کړیدی که چیري قصور دخاوند دی او نافرمانی دده دطرفه څخه ده نوپه خلع کی ده ته دښځی څخه مال اخیستل حرام دی اوکه چیري نافرمانی دښځی له طرفه ده نوصحیح ده، بیا دا اختلاف دی چی دورکول سوی څخه زیات اخیستل صحیح دی اوکه نه؟ صحیح داده چی جائز دي مگر خلاف اولی ده، وکره تحریما اخذ شيء ان نشز وان نشزت لا ولو منه نشوز ایضا ولو باکثر مما اعطاها علی الاوجه فتح وصحح الشمنی کراهة الزیادة تعبیر الملتقی لاباس به یفید انها تنزیهیة وبه یحصل التوفیق ([3]).

([1]) عن ابن عباس ان امراة ثابت بن قیس اتت النبی ﷺ فقالت یارسول الله ثابت بن قیس ما اعتب علیه فی خلق ولادین ولکن اکره الکفر فی الاسلام فقال رسول الله ﷺ اتردین علیه حدیقة قال نعم قال رسول الله ﷺ اقبل الحدیقة فطلقها تطلیقة رواه البخاری، وعن نافع عن مولاة لصیفة بنت ابی عبید انها اختلعت من زوجها بکل شیئ لها رواه مالك (مشکوٰة باب الخلع والطلاق ص ۲۸۴). ظفیر
([2]) وگوری ردالمحتار باب الخلع ج۲ ص ۷۸۳. ط. س. ج۳ ص ۴۴۵. ظفیر
([3]) الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب الخلع ج۲ ص ۷۷۱. ط. س. ج۳ ص ۴۴۵. ظفیر

دخاوند دمنظور ولو څخه بغیر قاضي خلع نه سي کولی: **سوال**: (۸۷۶) عمر ته په څه جرم کی دیارلس میاشتی قید وسو قاضی دده ښځه را وبلله دخلع حکم یی وکی بغیر دعلم اواجازت دخاوند څخه خلع کیدی سی اوکه نه؟

جواب: نه سی کیدی ([1]).

دطلاقو کاغذ چی کله دخاوند په مرضي ولیکی نو طلاق واقع کیږي اوس ددې دواپسی څه فائده نسته: **سوال**: (۸۷۷) دهندی پلار دهندی واده دزیدسره وکی دوه دری کاله وروسته دهندی اودزید په مینځ کی نا اتفاقی پیداسوه اوهنده دخپل پلار کره راغله چی دهغه څوارلس کاله وسوه چی په دی موده کی زید دهندی دنان او دنفقې څه خبر نه دی اخیستی، اوځلور میاشتی موده وسوه چی هندی کوشش وکی چی یاماته طلاق راکړه اویاما وساته خوزید دساتلو څخه انکار وکی اووی ویل چی که چیري هنده مهر معاف کړی نوزه به ورته طلاق ورکړم، چنانچی هندې پرکاغذ باندی ولیکله چی که زما خاوند طلاق راکړی نوزه مهر معاف کوم اودمهر څخه دست برداره کیږم، اوزیدهم طلاق ولیکی اودهندی کاغذ یی واخیستی، اوس چی کم خلګ په مینځ کی وه نو ددوی په خپل مینځ کی جګړه وسوه هغوی دزید کاغذ زید ته بیرته ورکی، اودهندی کاغذ یی دزید څخه واخیستی اوهندې ته یی بیرته ورکی نوپه دی صورت کی پرهندی باندی طلاق واقع سو اوهغه دوهمه نکاح کولی سی اوکه نه؟

جواب: په دی صورت کی پرهنده باندی طلاق واقع سو اومهر معاف سو ځکه چی دا دخلع صورت دی اودکاغذ په واپس کولو سره طلاق نه سی واپس کیدی. قال ﷺ ثلث جدهن جدوهزلهن جد الحدیث ([2]).

دښځی درضاء څخه بغیر خلع نه کیږي: **سوال**: (۸۷۸) دزبیدی خاوند دادکور څخه وایسته چی دهغه ځلور کاله وسوه، په دی مینځ کی دزبیدی دخاوند کورته دلیږلو خبری اتری کیدلی مګر دزبیدی میریزی ورور دزبیدی داجازته بغیر ددی دخاوند څخه دری طلاقه واخیستل اودمهر څخه یی دمنع دعوٰی ولیکله نو آیا طلاق واقع سو اوکه نه؟

جواب: په غیر درضاء دښځی څخه خلع نه سی کیدی یعنی نه مهر ساقطیږی اونه طلاق واقع کیږی نودمذکوری ښځی ورور چی بلا اجازته دمسماۃ څخه ددی دمهر دمنع دعوٰی ورکړه نوهغه صحیح نه سوه دخاوند دطرف څخه دری طلاقه چی دمهر پر معافی موقوف

([1]) هو ازالة ملك النكاح الخ المتوقفة على قبولها الخ وشرط كالطلاق (الدرالمختارعلى هامش ردالمحتار باب الخلع ج۲ ص ۷۶۲. ط. س. ج۳ ص ۴۳۹ – ۴۴۰). ظفير

([2]) مشكوٰة باب الخلع والطلاق ص۲۸۴. ظفير

وه نو هغه هم واقع نه سوه ([1]). فقط

<u>دخلع صورت او په دي سره دمهر معافي</u>: سوال: (٨٧٩) خاوند كه چيري ښځي ته طلاق وركړي ياخلع وكړي نومهر ساقطيږي اوكه نه اوكه به يې وركوي؟ دخلع څه صورت دی؟

جواب: كه چيري خلع وكړي خاوند اوښځه نومهر ساقطيږي اوكه خلع يې ونه كړه اوداسی طلاق يې وركی نو بيامهر نه ساقطيږي اودخلع صورت دادی چی ښځه مهر معاف كړي او خاوند طلاق وركړي اويا سړی دا ووايي چی ماستا سره خلع وكړه په عوض دمهر يا صرف دا ووايي چی ما ستاسره خلع وكړه اوښځه يې قبول كړي ([2]) په درمختار كی دی، ويسقط الخلع والمباراة كل حق لكل منهما على الاخر ([3]) الخ.

<u>صرف په اراده ښكاره كولو سره نه خلع كيږي اونه طلاق واقع كيږي</u>: سوال: (٨٨٠) بالا نومي سړی په يوه خبره باندی خپله ښځه ووهله ښځه دبيرى دوجه څخه پټه سوه نوخاوند خلګ راجمع كړل، دښځي سره يې خلع په عوض دمبلغ ددوو سوو روپو مقرر كړه اويو ستامپ يې واخيستی مګر بله ورځ يې په وجه دزيات چلبازي كاغذ ونه ليكی، نو په دی صورت كی دده پر ښځي طلاق واقع سو اوكه نه؟ اوكه بالا سړی پر خپلی ښځی دزنا تهمت هم ولګوی نو څه حكم دی؟

جواب: په دی صورت كی دمسمٰی بالا پرښځی طلاق نه واقع كيږي ځكه چی دخلع اراده يې ده اوددی تكميل ونه سو اومخكی يې چی ويلی وه نو هغه صريح لفظ نه دی ([4]) او دنيت نه كيدل دارادی دخلع څخه ښكاره دی اوپه تهمت لګولو سره نكاح نه ماتيږي.

<u>چی روپی يی واخيستی اووی ويل چی زما دفلانی سره هيڅ تعلق نسته نوخلع وسوه</u>: سوال: (٨٨١) يوسړی دبل دمنكوحی سره نكاح وكړه نوناكح دعوی وكړه اوپيش حاكم په دی طريقه سره صلح وكړه چی مدعی دوه نيم سوه روپی واخيستی اووی ويل چی اوس زما دمسماة غلام فاطمة سره څه تعلق نسته نوداصورت دخلع دی؟ اوطلاق واقع سواوكه نه؟

جواب: داصورت دخلع دی اودده پرښځی طلاق بائن واقع سو، قال فی الدرالمختار باب

([1]) الخلع هو ازالة ملك النكاح المتوقفة على قبولها (درمختار) قوله على قبولها اى المراة قال فی البحر ولابد من القبول منها حيث كان على مال اوكان بلفظ خالعتك اواختلعی اه (ردالمحتار باب الخلع ج٢ ص ٧٦٢. ط. س. ج٣ ص ٤٣٩ – ٤٤٠). ظفير

([2]) والخلع يكون بلفظ البيع والشراء والطلاق والمباراة كبعت نفسك اوطلاقك اوطلقتك على كذا او بارأتك اى فارقتك وقبلت المراة (الدرالمختار على هامش ردالمحتار باب الخلع ج٢ ص٧٧٠. ط. س. ج٣ ص٤٤٣). ظفير

([3]) الدرالمختار على هامش ردالمحتار باب الخلع ج٢ ص ٧٧. ط. س. ج٣ ص ٤٥٢. ظفير

([4]) الخلع هو ازالة ملك النكاح المتوقفة على قبولها بلفظ الخلع اومافی معناه (الدرالمختار على هامش رد المحتار باب الخلع ج٢ ص ٧٦٧. ط. س. ج٣ ص ٤٣٩ – ٤٤١). ظفير

الخلع هو ازالة ملك النكاح بلفظ الخلع اوما فى معناه الخ ليدخل لفظ المباراة فانه مسقط وسيجيئ الخ ملخصا (۱). فقط

پہ خلع لیکلو سره خلع کیږی: **سوال**: (۸۸۲) دښځی اودخاوند پہ مینځ کی دابتداء څخه مخالفت وو پہ غرض دتصفیی سره یوڅو کسان جمع سوه اودا فیصله یی مقرره کړه ددی خاوند وویل چی کم مکان دمسماة پہ نوم دی نو ددغه څخه دی دست برداری وکړی او ددی پہ عوض کی دی مبلغ دوه سوه روپی واخلی اوزما ددوهمی ښځی پہ نوم دی هغه مکان ولیکی نوزه بہ دیته طلاقنامه یاضابطه ولیکم نودښځی اودخاوند پہ مینځ کی دا معامله فیصله سوه اودواړو سټامپ ولیکی، ښځی دمکان څخه دست برداری ولیکله او خاوند طلاقنامه ولیکله صرف رجسټری باقی پاته سویده او رجسټری یی ونه کړله، نوپه دی صورت کی ښځه دوهمه نکاح کولی سی اوکه نه؟

جواب: کله چی خاوند طلاقنامه ولیکله اوښځی دمکان څخه دست برداری ولیکله نو دا خلع شرعًا مکمله سوه که څه هم پہ وجه ددهوکی دخاوند رجسټری ونه سوه. رجسټری کیدل شرعًا ضروری نه دی نو پہ دی صورت کی هغه ښځه طلاقه سوه اودعدی څخه وروسته دوهمه نکاح شرعا صحیح ده (۲). فقط

روپی یی واخیستی اوطلاق یی ورکی نوطلاق بائن واقع سو: **سوال**: (۸۸۳) یوه واده سوی ښځه یوسړی دهوکه کړه او بویی تلله، نوخاوندپه دی باندی دعوه وکړه، نوخلکو دخاوند دپاره دده دبیونکو څخه څلور سوه روپی واخیستی اوراضی نامه یی ولیکله نو داکار جائزدی اوکه نه؟

جواب: ددی سړی چی دچا ښځه وه که چیري یی څلور سوه روپی واخیستی اوطلاق یی ورکی نودا طلاق علی المال دی اودا شرعًا جائزدی گویا خاوند روپی واخیستی اوطلاق یی ورکی نو دا طلاق علی المال دی لکه څنگه چی پہ خلع کی کیږی نو هغه سړی چی چا روپی اولنی خاوند ته ورکړی اوطلاق یی ورڅخه واخیستی ده ته پہ کاردی چی دعدی څخه وروسته نکاح وکړی (۳).

بلا رضامندی دخاوند څخه جبرًا خلع جائز نه ده: **سوال**: (۸۸۴) کله چی خاوند دښځی خبر

---

(۱) الدرالمختار على هامش ردالمحتار باب الخلع ج۲ ص ۷۷۷. ط. س. ج۳ ص ۴۳۹ ، ۴۴۱. ظفير

(۲) الخلع هو ازالة ملك النكاح المتوقفة على قبولها بلفظ الخلع اوما فى معناه الخ وقوله لها انت طالق بالف او على الف وقبلت فى مجلسها لزم ان تكن مكرهة (الدرالمختار على هامش ردالمحتار باب الخلع ج۲ ص۷۷۷ وج۲ ص۷۷۵. ط.س. ج۳ ص۴۳۹)، وقع الطلاق بائن فى الخلع (ايضا ج۲ ص۷۷۲. ط. س. ج۳ ص۴۴۴). ظفير

(۳) وحكمه ان الواقع به ولو بلامال وبالطلاق على مال طلاق بائن (ايضا ج۲ ص۷۷۰. ط. س. ج۳ ص۴۴۴). ظ

گیری په حسب دحیثیت سره کوی اوپه خلع کولو باندی راضی نه وی نو ښځه په ذریعه دعدالت جبراً خلع کولی سی اوکه نه؟

جواب: په خلع کی دښځی اودخاوند درضا او داجازې ضرورت دی بلا رضا دخاوند څخه خلع نه سی کیدی اوښځی ته داجائز نه دی چی دخاوند دنان اونفقه ورکولو په صورت کی په هغه جبراً خلع وکړی (۱).

دفیصلی څخه مخکی صلح ښه ده: **سوال**: (۸۸۵) په دعوه دخلع کولو باندی مخکی دفیصلی څخه په ښځه اوخاوند کی مصالحت کول څنګه دی؟

جواب: داښه دی ځکه چی باری تعالٰی فرمایی: والصلح خیر (۲)، یعنی صلح کول ښه دی.

چی چل وکړی اوښځه بوزی نو څنګه دی؟ **سوال**: (۸۸۲) که خاوند ښځی ته دا ووایي چی زما مور وفات سوه اوبویی ځی اوپه حقیقت کی مور نه وی وفات سوی نو داجائز دی اوکه نه؟ اوخلع کولو ته داعذر دښځی کافی کیدی سی اوکه نه؟

جواب: خاوند ته دخپلی ښځی دبیولو حق حاصل دی لیکن دروغ ویلو ته دبیولو لپاره ضرورت نسته او ددی ددروغو ګناه به په خاوند باندی وی اوددی څخه دي توبه او استغفار وکړی او دعذر دپاره دښځی دخلع کولو نسی کیدی.

دخاوند درضا څخه ماسوا دخلع په ډګری سره خلع نه کیږی: **سوال**: (۸۸۷) کله چی دښځي دطرف څخه درخواست دطلاقو پرتیریدلو باندی خاوند نان اونفقه ورکول اوحقوق دزوجیت ادا کول قبلوی نو په داسی صورت کی هم ښځه دخلع کولو مستحق کیدی او دعدالت په ډګری خلع کولی سی اوکه نه؟

جواب: په دی صورت کی ښځه خلع نه سی کولی او دعدالت څخه ډګری دخلع بی درضا د خاوند څخه نسی کیدی اوکه چیري وسی نوهغه به شرعًا صحیح نه وی (۳).

په خلع باندی ښځه خاوند نسی مجبورولی: **سوال**: (۸۸۸) هنده دخپل خاوند کورته تلل نه خوښوی یعنی دده څخه خوشحاله نه ده نوزید په خلع اویا په طلاق مجبورولی سی اوکه نه؟

جواب: نه یې سی مجبورولی که چیري هغه غواړی نوطلاق اوخلع کولی سی ځکه چی دطلاقو اختیار شریعت خاوند ته ورکړیدی، قال ﷺ الطلاق لمن اخذ بالساق (۱).

---

(۱) واذا تشاق الزوجان الخ فلاباس بان تفتدی نفسها منه بمال یخلعها به فاذا فعل ذالك وقع بالخلع تطلیقة بائنتة ولزمها المال (هدایه باب الخلع ج۲ ص۳۸۰) دخلع او دطلاق حق صرف خاوند ته ورکول سویدی. ظفیر

(۲) سورة النساء رکوع : ۱۹. ظفیر

(۳) ددی وجه چی داحق دخاوند دی بل سړی دا نه سی استعمالولی. ظفیر

دمقدمی په دوران کی خلع کیدی سی: **سوال**: (۸۸۹) یوه ښځه دخپل خاوند دظلمونو کولو اودنان اودنفقی دنه ورکولو څخه تنګه سوه نو دخپل خاوند په اجازه دخپل پلار کره ولاړه، خاوند په مقابله دښځی په عدالت دیوانی کی دښځی دطلب فریاد وکی، ښځی داجواب ورکی چی خاوند می ظالم دی نان اونفقه نه راکوی نو ددی وجه دي خلع وکړی مدعی داعذر وکی چی دښځي دطلب په فریاد کی خلع نه سی کیدی نو ښځی ته دخلع جلا فریاد کول په کاردی؟

جواب: خلع په شریعت کی دیته وایي چی ښځه خپل حق مهر وغیره معاف کړی اوخاوند طلاق ورکړی یادا ووایي چی ماپه عوض دمهر کی خلع وکړه نو داپه هر وخت اوپه هر حالت کی صحیح ده چی دزوجي دطلبی مقدمی په دوران کی هم کیدی سی داوینا دخاوند غلطه ده چی دزوجي دطلبي په فریاد کی خلع نه سی کیدی اوپه خلع سره طلاق بائن واقع کیږی پر ښځی باندی. کذافی الدرالمختار ([2]).

دری واره په فارغ خطی سره هم یوطلاق بائن واقع کیږی: **سوال**: (۸۹۰) که چیري یو سړی خپلی ښځی ته په عوض دمعافی دمهر کی فارغ خطی ورکړه اودری واره یی وویل چی مافارغ خطی ورکړه نو په دی صورت کی طلاق واقع سو اوکه نه؟ که چیري واقع سوی وی نوڅومره طلاق واقع سو؟

جواب: دښځی دطرف څخه دمهر معافی په عوض کی دخاوند فارغ خطی ورکول په شان دمبارات اودخلع دی مګر دومره فرق دی چی خلع په وجه دعرف په طلاق کی صریح سو او دفارغ خطی لفظ داسی نه دی، ددی وجه په لفظ دخلع کی صرف دخلع دلفظ په استعمالولو سره طلاق بائن واقع کیږی برابره خبره ده چی دطلاقو نیت وکړی اوکه ویې نه کړی اودخلع دلفظ څخه په علاوه کی که نیت یی دطلاقو کړی وی نوطلاق بائن به واقع سی اوکه چیري نیت یی نه وی کړی نو نه واقع کیږی مګر چیري چی لفظ دفارغ خطی په طلاقو کی عرف وی نو داهم په شان دخلع به صریح سی. په هرحال په صورت دعدمِ عرف لفظ دفارغ خطی که چیري په نیت دطلاقو یی ویلی وی نوپه دی صورت کی یوطلاق بائن واقع کیږی اودفارغ خطی په دری واره ویلو سره دری طلاقه نه واقع کیږی ځکه چی په یو وار ویلو سره هغه بائنه سوه اودطلاق بائن څخه وروسته دوهم طلاق بائن نه واقع کیږی، قال فی الدرالمختار (باب الخلع) الا ان المشائخ قالوا لا تشترط النية

([1]) وګوری الدرالمختار علی هامش ردالمحتار کتاب الطلاق ج۲ ص **۵۸۵**. ط. س. ج۳ ص **۴۴۲**. ظفیر

([2]) الخلع ازالة ملك النكاح المتوقفة على قبولها بلفظ الخلع اوما فى معناه فانه مسقط ولاباس به عند الحاجة بما يصلح للمهر الخ (ايضا باب الخلع ج۲ ص۷۲۲ – ۷۲۷. ط. س. ج۳ ص **۴۳۹** ، **۴۴۱**). ظفیر

ههنا الخ درمختار (۱)، قال الشامی قوله هٰهنا ای فی لفظ الخلع وفی البحر عن البزازیة فلو کانت المباراة ایضا کذالك ای غلب استعمالها فی الطلاق لن تحتاج الی النیة وان کانت من الکنایات والا تبقی النیة مشروطة فیها وفی سائر الکنایات علی الاصل (۲).

دخلع ښځه وروسته هم عده ضروري ده: **سوال**: (۸۹۱) که چیري دخلع والا ښځه بی دعدی ښځه ددوهم سړی سره نکاح وکړی نو دانکاح په نزد دشرع جائز ده اوکه نه؟

جواب: په نیمه عده کی نکاح نه کیږی دطلاقو په عده کی نکاح باطله ده اودده قول چی په دی کی عده نسته غلط دی (۳).

دخلع او دعدی سره متعلق احادیث مبارکه: **سوال**: (۸۹۲) په نسایی وغیره کی چی په باب الخلع وعدة المختلعة کی کم حدیث واحد وارد دی یا لکه په ترمذی شریف ابوداود شریف کی: بحیضة، لفظ وارد دی نو داحدیث په ښکاره دامام صاحب دمسئلی خلاف معلومیږی نوهغه حدیث چی په هغه کی صراحةً، ثلث حیض، راغلی دی نوتطبیق ددواړو روایاتو ولیکی، زما دیوغیر مقلد سره په دی باره کی خبری سوی وی نو ددی لپاره معلومات حاصلول غواړو!

جواب: دثابت بن قیس بی بی چی کله دخپل خاوند سره خلع کول وغوښتل اوپه دی ارادی سره دنبی کریم ﷺ په خدمت کی حاضره سوه نو بیا نبی کریم ﷺ ثابت بن قیس ته وفرمایل، اقبل الحدیقة وطلقها تطلیقة، رواه البخاری. (۴) په دی باندی علامه قاری لیکلی دی چی فرمایی: وفیه دلیل علی ان الخلع طلاق لافسخ الخ (۵) نوچی ددی حدیث دبخاری څخه چی دخلع طلاق کیدل ثابت سوه نو دعدی فیصله دنص قطعی څخه پخپله سویده چی، قال الله تعالی والمطلقٰت یتربصن بانفسهن ثلثة قروء، الآیة (۶). فقط

چی مهر معاف کړی نوخلع کول صحیح دی: **سوال**: (۸۹۳) زید خپلی ښځی هندی ته خرڅ او خوراك هم نه ورکوی اوطلاق هم نه ورکوی نوکه چیري زید ته دډیر رقم لالچ ورکړی او خلع وکړی اوددی دارقم په قرض دمهر کی مجراء کړی نو دابه جائز وی اوکه نه؟

---

(۱) الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب الخلع ج۲ ص ۷۷۱. ط. س. ج۳ ص ۴۴۵. ظفیر

(۲) ردالمحتار باب الخلع ج۲ ص ۷۷۱. ط. س. ج۳ ص ۴۴۵. ظفیر

(۳) العدة هی تربص یلزم المراة عند زوال النکاح ورکنها حرمات ثابته بها لحرمة تزوج وخروج وهی فی حق حرة تحیض لطلاق ولو رجعیا اوفسخ بجمیع اسبابه بعد الدخول حقیقة اوحکما ثلاث حیض کوامل (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب العدة ج۲ ص ۸۲۳. ط. س. ج۳ ص۵۰۳). ظفیر

(۴) مشکوٰة باب الخلع والطلاق ص ۲۸۲. ظفیر

(۵) عمدة القاری شرح البخاری. ظفیر

(۶) سورة البقرة رکوع : ۲۸. ظفیر

جواب: دخلع متعلق چی کم صورت په سوال کی ذکر دی نو داجائز دی، پر یو رقم مقرره باندی دخلع کولو څخه وروسته دمهر په دین کی دامجرا کیدلی سی، بیا دوهم صورت دجلاوالی دادی چی ښځه دی قاضی ته دنه ادائیګی دنفقی درخواست ورکړی داقاضی دی شافعی المذهب نه وی چی دهغه په مذهب کی دنه اداء کولو دنفقی په وجه سره تفریق کیدی سی جداوالی وکړی، داقضاء دحنفی په حق کی جائز ده اوهم نافذه ده دا صورت که چیري اسلامی ریاست ته ولاړسی نو په اسانتیا سره کیدی سی: ولا یفرق بينهما بعجزه عنها الخ وجوزه الشافعی الخ ولوقضٰی به حنفی لم ینفذ نعم لو امر شافعا فقضٰی به نفذ الخ درمختار باب النفقة ([1]).

روپي یی واخیستی اوطلاق یی ورکی نو په طلاق بائن سره ښځه دده څخه جلاسوه: **سوال**:

(۸۹۴) زید دخپلی ښځی سره هیڅ کله همبسترنه سو نودخو معززو مسلمانانو په مخکی یی وویل چی زه دا ښځه نه ساتم اودا پرما طلاقه ده اوحرامه ده عمر زید ته وویل چی یو نیم سل روپی زه تاته درکوم په طور دخلع نوزید وویل چی زه یی قبلوم اودا ښځه پر ما طلاقه ده اوحرامه ده، نو په دی صورت کی هنده مطلقه ثلثه سوه اوکه نه؟ اوبکر ته خلع ورکول لازمی دی اوکه نه؟

جواب: په دی صورت کی دده په ښځی طلاق بائن واقع سو اوبکر ته مذکوره روپی ورکول لازمی دی په درمختار کی دی، فان قالها الاب علی مال ضامنا له الخ صح والمال علیه کالخلع من الاجنبی الخ وفی الشامی قوله کالخلع من الاجنبی ای الفضولی وحاصل الامر فیه انه اذا خاطب الزوج فان اضاف البدل الی نفسه علی وجه یفید ضمانه له اوملکه ایاه کان خلعها بالف علی اوعلی انی ضامن او علی الفی هذه اوعبدی هذا ففعل صح والبدل ([2]) علیه الخ شامی.

دجرګی په ذریعه خلع صحیح ده: **سوال**: (۸۹۵) خلاصه دسوال داده چی امیر حسن دخپلی ښځی خبر ګیری نه کوله، اخر جرګی دامیر حسن اودده دښځی یی اقرار نامه ددی امر ولیکله چی څه فیصله جرګی وکړه نوهغه به فریقینو ته منظور وی، ددې څخه وروسته جرګې دا فیصله وکړه چي موږ دمریم نومي ښځي مهر دوه سوه روپی او په وجه داقرار نامه لس روپی ماهانه ټول رقم امیر حسن ته معاف کی اوامیر حسن ښځه مریم ازاده کړه، نوشرعا مسماة مریم ازاده سوه اوکه نه؟ اودا ازادی په طریقه دخلع ده یاپه طریقه دطلاق؟

([1]) الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب النفقة ج۲ ص ۹۰۳. ط. س. ج۳ ص ۵۹۰. ظفیر

([2]) ردالمحتار باب الخلع ج۲ ص ۷۸۲. ط. س. ج۳ ص ۴۵۸. ظفیر

جواب: په دی صورت کی مسماة مریم ازاده سوه اوطلاق بائن پردې واقع سو اودا ازادی په طریقه دخلع اوپه طریقه دطلاقو علی المال سوه اوخلع هم عند الحنفية طلاق دی لکه څنګه چی په درمختار باب الخلع کی دی چی: وحکمه ان الواقع به ولو بلامال وبالطلاق الصريح علی مال طلاق بائن الخ ([1]). فقط

لسم باب

باب الایلاء

قسم اخیستل چی تر څلورو میاشتو پوری به ښځی ته نه نژدی کیږمه

قسم یی واخستی چی ترڅلورو میاشتو پوری به تاته نه نژدی کیږمه، نوڅه حکم دی؟ سوال: (۸۹۶) که چیري خاوند داقسم واخستی چی زه به تاته نه نژدی کیږمه څلور میاشتی نوپه دی قسم سره کم قسم طلاق واقع کیږی؟

جواب: دامسئله دایلاء ده چی په هدایه وغیره کی درج ده، ددی صورت دادی چی خاوند داقسم واخلی چی ترڅلورو میاشتو پوری به تاته نه نژدی کیږه نو ددې عربی الفاظ دا دی چی: والله لا اقربك اربعة اشهر فهو مول لقوله تعالی للذین یؤلون من نسآء هم تربص اربعة اشهر فان فآءوا فان الله غفور رحیم وان عزموا الطلاق فان الله سمیع علیم ([2]). نو که چیري خاوند داقسم کړی وی چی والله زه به تاته نه نژدی کیږم ترڅلورو میاشتو پوری اوبیا تر څلورو میاشتو پوری نژدی نه سو نو بی شکه دده پرښځی باندی طلاق بائن واقع کیږی ([3])، نودادی په خپله پردی باندی غور وکی چی آیا خاوند واقعی داسی قسم کړیدی په ژبه باندی اوکه نه؟

یوولسم باب

دلعان متعلق احکام اومسائل

بغیر دشرطونو دپیدا کولو څخه لعان نه کیږي: **سوال**: (۸۹۷) مسماة نور زوجه دکمال نجار دا ښکاره کړه چی پرما باندی زما خاوند تهمت دزنا لګوی چی ته دفلانی سړی سره زنا کوی اوماته په دی وخت کی حمل دخپل خاوند څخه نه دی اوخاوند می وایي چی دا حمل زما څخه نه دی، دی ناحقه تهمت ددروغو پرماباندی لګوی، تردی پوری چی دخپل وروړ مسمٰی فتاح نجار سره تهمت لګوی، لیکن نجار داښکاره کړه چی مانه پر خپله

([1]) الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب الخلع ج۲ ص ۷۷۰. ط. س. ج۳ ص ۴۴۴. ظفیر

([2]) هدایه باب الایلاء ج۲ ص ۲۷۲. ظفیر

([3]) فان وطئها فی الاربعة الاشهر حنث فی یمینه ولزمه الکفارة ویسقط الایلاء وان لم یقربها مضت اربعة اشهر بانت منه بتطلیقة (هدایه باب الایلاء ج۲ ص۳۷۷). ظفیر

منکوحه مسماة نور باندی دزنا تهمت لګولی دی اونه ما دحمل څخه انکار کړیدی، دا دخپل پلار په وینا ځی، البته چی په چا شك دی نوزه خپلی منکوحی ته وایم چی ددوی سره کښېنستل ولاړیدل پریږده مګر هغه دانه منی، داشك دی نو په دی صورت کی لعان ثابت دی اوکه نه؟ یومولوی صاحب په دی باندی حکم دلعان فرمایلی دی، نو آیا دافتوٰی صحیح اونافذه سوه اوکه نه؟

جواب: حکم دلعان په دی صورت کی پرحالت موجوده بی دتحقیق دشرائطو دلعان څخه کول صحیح نه دی اوحکم دجداوالی نافذ نه دی، اوکه چافتوٰی ورکړیده نوهغه صحیح نه ده اوپه هغه عمل کول نه دی په کار کما بین فی کتب الفقه ([1]).

خاوند پرښځی تهمت ولګوی اوس ښځه جداوالی غواړی نوڅه حکم دی؟ سوال: (۸۹۸) زید پرخپله ښځه هنده دزنا تهمت ولګوی اوس هنده جلاوالی غواړی نو په دی صورت کی مسلمان حاکم لعان کولی سی اوکه نه؟

جواب: دلته دلعان حکم نه دی اونه جداوالی کیدی سی لکه څرنګه چی په درمختار کی دی : فمن قذف بصریح الزناء فی دار الاسلام زوجته ([2]) الخ. فقط

نکاح خوان چی کم لعان وکی اوجلا والی یی وکی نوهغه صحیح نه دی: سوال: (۸۹۹) زید دخپلی ښځی دعمر سره تهمت ولګوی اودواړو قسمونه وکړل اولعان یی وکی اوقاضی نکاح خوان په دواړو کی جداوالی وکی نو په دی صورت کی لعان صحیح سو اوکه نه؟ او جداوالی اوسو اوکه نه؟

جواب: په درمختارکی دی، فمن قذف بصریح الزنا فی دارالاسلام زوجته الخ فی الشامی قوله فی دار الاسلام اخرج دار الحرب لانقطاع الولایة ([3])، نوددی روایت څخه معلومه سوه چی په مسئوله صورت کی لعان صحیح نه سو اوجداوالی ونه سو.

دخاوند په قسم کولو اوتهمت لګولو سره اودښځی په لعنت کولو سره طلاق اولعان ونه سو:

سوال: (۹۰۰) زید پرخپله ښځی دځلور وارو څخه زیات دزنا تهمت ولګوی اودځلورو یا ددی څخه دزیاتو سړیانو په مخکی یی ددی اعاده وکړه اوقسم یی وکړی اووی ویل او ددی دیوکال څخه زیات وخت تیر سو او ددی څخه مخکی هم هنده او ددی بچیان چی

([1]) وسببه قذف الرجل زوجته قذفا یوجب الحد فی الاجنبیة الخ فمن قذف بصریح الزنا فی دار الاسلام زوجة الحیة بنکاح صحیح (درمختار) قوله فی دار الاسلام اخرج دار الحرب لانقطاع الولایة (ردالمحتار باب اللعان ج۲ ص ۸۰۵ - ۸۰۷. ط. س. ج۳ ص۴۸۳). ظفیر

([2]) الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب اللعان ج۲ ص ۸۰۷. قوله فی دار الاسلام اخرج دار الحرب لانقطاع الولایة (ردالمحتار باب اللعان ج۲ ص ۸۰۷. ط. س. ج۳ ص ۴۸۴). ظفیر

([3]) ردالمحتار باب اللعان ص۸۰۷. ط. س. ج۳ ص۴۸۴. ظفیر

دزيد صلبي اولاد دي ترډيرى كمي مودى پورى زيد ددوى دخوراك اودڅښاك ذمه دار پاته سو، حالانكي دواده شپاړس كاله موده تيره سوه چي دهندى اوددى دبچيانو ذمه دار دهندى مور اوپلار دي نو په داسي حالت كي لعان واقع سو اوكه نه؟ حالانكي زيد پر هنده باندي اوهندي په زيد باندي ديوڅو كسانو په مخكي لعنت وكى!

جواب: په دى صورت كي لعان اوطلاق نه ثابتيږى ځكه چي دلعان شرائط په دى وخت كي نسته، اوكله چي لعان په دى زمانه كي اوپه دى ملك كي ثابت نه دى، په وجه دمفقود والي ددى دشرائطو، نوكه چيري په خپله ښځي اوخاوند لعان وكى نوپه دى سره جداوالى نه كيږى اوطلاق نه واقع كيږى اوپر خاوند به ددى دتهمت لګولو مؤاخذه وى، اوپه دنيا كي په دى وخت كي په دى باندى څه حكم مرتب نه دى، په شامي باب اللعان كي دى، ويشترط ايضا كون القذف بصريح الزنا كونه فى دار الاسلام الخ وفيه (۱) ايضا قوله فى دار الاسلام اخرج دار الحرب الخ وفيه ايضا وهو انه لاتقع الفرقة بنفس اللعان قبل تفريق الحاكم الخ (۲)، نو هنده په دى صورت كي په دستور سره دزيد ښځه ده نو ده ته دى دا وويل سى چي يا طلاق وركړه اويا حقوق دزوجيت نان او نفقه اداء كړه ځكه چي، قال الله تعالى فامساك بمعروف اوتسريح باحسان (۳). فقط

په هندوستان كي لعان اوددي دوجه څخه دجلاوالي څه صورت نسته: **سوال**: (۹۰۱) زيد پر خپله ښځي دزنا تهمت ولګوى، نوكه چيري سړى په خپله ښځه دزنا تهمت ولګوى او ښځي انكار وكى اوسړى شاهد پيش نه كي چي دهغه دتحقيق دپاره ثالثي وكړى، په ثالثي كي دزنا تهمت ثابت سو، نو په دى كي دلعان حكم دى او كه نه؟ نو چي قاضى نسته نو دجداوالى به څه صورت وى؟

جواب: دلعان دپاره چونكي دار الاسلام كيدل هم شرط دى كما صرح به فى كتب الفقه، نو ددى وجه څخه په دى ملك كي دلعان څه صورت نسته نو چي كله لعان نسته نو جدا والى به هم نه وى (۴).

صرف ديو سړي اوديوى ښځي په كتلو سره زنا نه ثابتيږى اودلته لعان هم نسته: **سوال**: (۹۰۲) دزيد دوى ښځي دى هنده اوخالده زيد اوخالده دواړو هنده په حالت دزنا كي په زير اوپه زبر په خپلو سترګو وليدله نو زنا ثابته ده اوكه نه؟ اودطلاق وركولو څخه وروسته

(۱) ردالمحتار باب اللعان ج۲ ص ۸۰۲. ط. س. ج۳ ص ۴۸۴. ظفير
(۲) ايضا ج۲ ص۸۱۰. ط. س. ج۳ ص۴۸۴. ظفير
(۳) سورة البقرة ركوع : ۲۹. ظفير
(۴) قوله فى دار الاسلام اخرج دار الحرب (ردالمحتار باب اللعان ج۲ ص۸۰۲. ط.س. ج۳ ص۴۸۴). ظفير

دمهر دين حق ورکول لازم دی اوکه نه اوزيد ددی سره لعان وکړی اوکه نه بلالعان دی طلاق ورکړی؟

جواب: زيد اودده دښځی خالده په بيان سره پرهندی به دزنا ثبوت نه وی او په وجه ددار الاسلام نه کيدو لعان به هم نه راځی اومهر به وروسته ترطلاقو واجب الاداء وی.

ددوو شاهدانو په شاهدی سره دخاوند تهمت لګول ثابتيږی: **سوال**: (۹۰۳) هنده په خپل خاوند زيد باندی دعوده دلعان وکړه سره ددی څخه چی هغه پاکه اوبا عصمته ده زيد انکار وکی، هندی دوه شاهدان پيش کړه چی پايبند دروژی اودلمانځه دی نو داشاهدان به عادلان منل کيږی اوکه نه؟

جواب: دلعان دپاره دار الاسلام کيدل شرط دی، په شامی کی دی، ويشترط ايضا کون القذف بصريح الزنا وکونه فی دار الاسلام الخ ([1])، فلهذا په دی ملك خو لعان نسته، البته که چيري په دار الاسلام کی که چيري خاوند خپلی ښځی ته ښکاره تهمت دزنا وغيره ولګوی نو لعان واجبيږی، فمن قذف بصريح الزنا فی دار الاسلام زوجته الخ لاعن الخ ([2])، اوکله چی په دوو عادلو شاهدان سره دخاوند تهمت ثابت سی نو دخاوند انکار به معتبرنه وی اوپه دی صورت کی به دواړه شاهدان دمذکوره ښځی عادلان منل کيږی.

دتهمت لګولو سزا: **سوال**: (۹۰۴) که چيري يوسړی ددروغو قسم واخستی پر خپلي منکوحه ښځي باندي يې کمه چي نهاته پاك لمني او باعصمته ده، شرارةً دبې عصمتی تهمت ولګوی، نو نکاح به باقي وي اوکه فسخ سوه؟

جواب: پرخپلي منکوحي باندي دزنا په تهمت لګولو سره نکاح نه ماتيږي، ليکن خاوند به حد قذف يعنی اتيا (۸۰) دوری به وهل کيږی که چيري حکومت اسلامی وی نودده شهادت به مردود وی په درمختار کی دی چی: ويعد الحر اوالعبد الخ قاذف المسلم الحر البالغ العاقل العفيف من فعل الزنا الخ بصريح الزنا (درمختار) ولا القاذف فی دار الحرب. شامی ([3]).

په هندوستان کی دلعان په ذريعه فسخ دنکاح نسته: **سوال**: (۹۰۵) زيد پرخپلي ښځی هنده باندی تهمت ولګوی چی زما دښځی هندی دعمر سره ناجائز تعلق دی اوعمر څو واره دهندی دبطن څخه حمل ساقط کړيدی هندی چی داخبره واوريده نو دجج صاحب سره يی دعوه‌وکړه چی لعان وکړی اوزمانکاح فسخ کړی زيدديوث دی، نوپه دی صورت کی لعان

([1]) الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب اللعان ج۲ ص ۸۰۵. ط.س. ج۳ ص۴۸۴. ظفير
([2]) ايضا ج۲ ص ۸۰۲. ط. س. ج۳ ص ۴۸۴. ظفير
([3]) وګوری ردالمحتار باب حد القذف ج۳ ص ۲۳۱. ط. س. ج۳ ص ۴۵. ظفير

وسو اوکه نه؟

جواب: شرعا په حالت موجوده کی دلعان حکم نسته اونکاح فسخ نه سوه اوهنده دوهمه نکاح نه سی کولی ([1]). فقط

دولسم باب

دظهار متعلق احکام او مسائل

په نیت دطلاقو دا ویل چی ته زما دخور په شان یی نوپه دی سره طلاق بائن واقع سویدی:

سوال: (۹۰۶) زید خپلی ښځی ته په حالت دغصه کی په نیت دطلاقو وویل چی ته په شان زما دلور اوپه شان دخور یی نو په دی صورت کی دده پر ښځی کم طلاق واقع سو، نوکه چیري بائن طلاق واقع سوی وی نو مخکی دوضع دحمل څخه داولنی خاوند سره نکاح کول یی صحیح دی اوکه نه؟

جواب: که چیري په دی الفاظو کی دزید نیت دطلاقو وو لکه څنګه چی دسوال څخه ښکاره ده نویو طلاق بائن دده پرښځی واقع سو، اونکاح په عده کی یعنی مخکی دوضع دحمل څخه ددی دخاوند زید سره صحیح ده ([2])، وان نوی بانت علی مثل امی اوکامی الخ براً اوظهاراً اوطلاقا صحت نیته ووقع ما نواه لانه کنایة ([3]). درمختار. فقط

ما تحت ویل یی غوښتل مګر دژبی څخه یې ووتل ته زما مور یی څه حکم دی؟ سوال: (۹۰۷) یوسړی خپلی ښځه ته داویل غوښتل چی ته زما ماتحت یی، نو په وجه دغلطی دده دژبی څخه ووتل چی ته زما مور یی نو په دی صورت کی څه حکم دی؟

جواب: په دی صورت کی نه طلاق سته اونه ظهار، او ددوی نکاح باقی ده مګر داسی ویل مکروه دی اوبیا دی داسی لفظ نه وایي، په درمختار کی دی چی: والا ینو شیئًا او حذف الکاف لغا (درمختار) قوله اوحذف الکاف بان قال انت امی شامی ([4]) ج۲ ص ۵۷۷، ویکره قوله انت (الی) یا بنتی یا اختی ونحوه، درمختار ([5]) صفحه مذکوره شامی ج۲). فقط

په غصه کی یی په نیت دطلاقو وویل چی ته په شان زمادلوریی نوپه دی سره طلاق بائن واقع

([1]) فمن قذف بصریح الزناء فی دار الاسلام زوجته نکاح صحیح العفیفة عن الزناء الخ لاعن (درمختار) قوله فی دار الاسلام اخرج دار الحرب لانقطاع الولایة (ردالمحتار باب اللعان ج۲ ص۸۰۲. ط. س. ج۳ ص۴۸۴). ظفیر

([2]) وینکح مبانة بما دون الثلاث فی العدة وبعدها بالاجماع (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب الرجعة ج۲ ص۷۳۸. ط. س. ج۳ ص۳۰۹). ظفیر

([3]) الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب الظهار ج۲ ص۷۹۴. ط. س. ج۳ ص ۴۷۰. ظفیر

([4]) وګوری ردالمحتار باب الظهار ج۲ ص ۷۹۴. ط.س. ج۳ ص۴۷۰. ظفیر

([5]) الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب الظهار ج۲ ص ۷۹۴. ط. س. ج۳ ص۴۷۱. ظفیر

کیږي: **سوال**: (۹۰۸) زید خپلی ښځی ته په حالت دغصه کی په نیت دطلاقو وایي چی ته په شان زما دلور یی اوته په شان زما دخور یی نو په دی صورت کی کم طلاق واقع سو اودزید ښځه حامله هم ده، نوبغیر دوضع دحمل څخه دزید نکاح ددغه ښځی سره جائز ده اوکه نه؟ اوزید دطلاق ورکولو څخه دری څلور ورځی وروسته نکاح وکړه نودا نکاح صحیح ده اوکه نه؟

جواب: که چیري په نیت دطلاقو زید خپلی ښځی ته دا الفاظ ویلی وی چی ته په شان زما دلور یی اوپه شان زما دخور یی نویو طلاق بائن دده پر ښځی باندی واقع سو اوپر ښځی باندی عده واجب ده، عده ددی وضع دحمل ده، اودزید نکاح ددی سره په عده کی دننه یعنی دوضع دحمل څخه مخکی هم صحیح ده، او وروسته نکاح چی زید دری څلور ورځی دطلاقو څخه وروسته کړیده صحیح سوه (۱) په درمختار کی دی چی: وان نوی بانت علی مثل امی او کامی وکذا لو حذف علی برا اوظهار اوطلاقا صحت نیته ووقع ما نواه لانه کنایة الخ (۲). فقط

<u>که چیري ستاسره همبستر سوم نو دمور سره به یم په دي ویلو سره طلاق واقع نه سو</u>: **سوال**: (۹۰۹) زید په غصه کی راغی خپلی ښځی ته یی وویل که چیري دنن څخه ما ستاسره هم بستری وکړه نو دخپلی مور سره به می فلانکی کار کړی وی مګر دده نیت نه دپریښوولو وو اونه دطلاق ورکولو، نو آیا نکاح قائمه پاته سوه اوکه نه؟ اوددی سړی دپاره څه حکم دی؟

جواب: په دی صورت کی نکاح باقی ده اوطلاق اوظهار اوایلاء هیڅ هم ونه سوه: وان نوی بانت علی مثل امی او کامی وکذا لو حذف علی براً اوظهاراً اوطلاقًا صحت نیته ووقع مانواه لانه کنایة اولاینو شیئا اوحذف الکاف لغا الخ (۳)، وفی کتاب الایمان منه وان فعله فعلیه غضبه الخ اوهو زان اوسارق الخ لایکون قسما (۴) الخ ، درمختار.

<u>که چیري ستاسره خبري وکړم نو دخپلی خور سره به خبري کوم په دي وینا سره طلاق نه واقع کیږي</u>: **سوال**: (۹۱۰) زید خپلي ښځی هندی ته وویل چی ته ماته مهر معاف کړه هندی انکار وکی، نوزید په غصی سره وویل چی که دنن څخه ما ستاسره خبری وکړی نو

---

(۱) وینکح مبانة بمادون الثلاث فی العدة وبعدها بالاجماع (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب الرجعة ج۲ ص ۷۳۸. ط. س. ج۳ ص ۵۰۹). ظفیر

(۲) الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب الظهار ج۲ ص ۷۹۴. ط. س. ج۳ ص ۴۷۰. ظفیر

(۳) الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب الظهار ج۲ ص ۷۹۴. ط. س. ج۳ ص ۴۷۰. ظفیر

(۴) الدرالمختار علی هامش ردالمحتار کتاب الایمان ج۳ ص ۷۸. ط. س. ج۳ ص ۷۲۱. ظفیر

دخپلی خور سره به خبري کوم، چی دافقره زید په خپلی ژبی سره اداء کړه، نو ایا دنکاح پرقائم پاته کیدو یانه پاته کیدو باندی خو کم اثر نه لری؟ اودزید دهندی سره کوروالی صحیح دی اوکه نه؟

جواب: په دی لفظ سره طلاق نه واقع کیږی اوپه نکاح کی څه فرق هم نه راځی اونژدیکت اوجماع کول صحیح (۱) دی. فقط

که ستاسره می جماع وکړه نو دمور سره به یی کوم ددی جملی دویلو څه حکم دی؟ سوال: (۹۱۱) زید خپلی ښځی ته وویل چی که چیري زه ستاسره کوروالی وکړم نو دخپلی مور سره به یی وکړم، نو په دی صورت کی څه کفاره ده؟

جواب: دا لفظ چی خاوند وویلی نو دا دظهار لفظ نه دی په دی کی څه کفاره نسته لکه څنګه چی په عالمګیری کی دی چی: وان وطئتك وطئت امی لا شيء علیه الخ کذا فی غایة السراجی عالمګیری (۲).

ښځی ته یی وویل که ستا سره صحبت وکړم نو دمور سره به یې وکړم نوطلاق واقع سو اوکه نه؟ سوال: (۹۱۲) زید خپلی منکوحی ته دغصی په حالت کی داسی وویل چی که چیري ستاسره صحبت وکړم نو دخپلی مور سره به یی وکړم اوبیایی وروسته وویل چی ستاسره پریوتل اوخبری کول هم حرام دی نو په دی صورت کی څه حکم دی؟

جواب: خپلی منکوحی ته په دا الفاظ ویلو سره چی که چیري ستا سره صحبت وکړم نو دخپلی مور سره به یی وکړم په دی سره طلاق واقع نه سو، لیکن لفظ دحرام چی کله خاوند وروسته وویلی نوکه چیري په دی کی یی نیت دطلاقو وی نو یوطلاق بائن په دی سره واقع سو (۳) نوی نکاح په عده کی او وروسته دعدی څخه کولی سی.

ښځی ته یی خور وویل نو څه حکم دی؟ سوال: (۹۱۳) زید خپلی ښځی ته وویل چی ته زما خور یی دده ښځی منکوحه وویل چی زه خو ستا بی بی منکوحه یم ته ماته خور ولی وایي، زید جواب ورکی چی تابه خور جوړه کړم او اوسیږی به، اوس دواړو دطلاقو دخطرې دوجهی څخه جدایی ساتلی ده، اوهم بستری یی ونه کړله، نو په دی صورت کی طلاق واقع سو اوکه نه؟

جواب: په در مختار کی دي چی داسی ویل خپلی منکوحی ته مکروه دی خو په دې سره

---

(۱) وان لم ینو شیئا اوحذف الکاف لغا (ایضا باب الظهار ج۲ ص ۷۳۸). ظفیر

(۲) عالمګیری کشوری ج۲ ص ۵۲۲ باب الظهار، ط. س. ج۳ ص ۵۰۷. ظفیر

(۳) وان کان الحرام فی الاصل کنایة یقع بها البائن الخ ولا شيء من الکنایة یقع به الطلاق بلا نیة او دلالة الحال کما صرح به البدائع (ردالمحتار باب الکنایات ج۲ ص ۷۳۸. ط. س. ج۳ ص ۲۹۹). ظفیر

طلاق نه واقع کیږی اوپه نکاح کی څه فرق هم نه راځی اوخاوند ته په کار دی چی داخپله منکوحه وګڼی اودبیا دپاره دی داسی الفاظ نه وایي چی عبارت ددرمختار دادی: اولا ینوی شیئا اوحذف الکاف (بان قال انت امی لغا وتعین الادنی ای البر یعنی الکرامة ویکره قوله انت امی ویا بنتی ویا اختی، درمختار (۱). فقط

که ستا سره تعلق وساتم نو دمور خور سره به یی ساتم ددی ویلو څه حکم دی؟ سوال: (۹۱۴)

یوسړی په غصه کی خپلی ښځی ته دا کلمات وویل چی که زه ستا سره څه تعلق وساتم نو دخپلی مور اوخور سره به یی ساتم، اودا ویل چی ته زما دمور اودخور برابر یی ، بیا ددی څخه وروسته یی وویل چی تاته طلاق دی تاته طلاق دی، چی داټول الفاظ یی په یوځای کی وویل، نو یو صورت ددوی دمیلان کیدی سی اوکه نه؟

جواب: په لفظ دمثل راوړلو اودنه راوړلو کی فقهاؤ فرق کړیدی نوبناء پردغه باندی اوله جمله یعنی داکه چیري ستا سره تعلق وساتم نو دخپلی مور او خور سره به یی ساتم لغوه دی، اودوهمه جمله چی ته زما دمور خور برابره یی نو په دی کی دنیت اعتبار دی نوکه دظهار نیت یی وی نو ظهار دی اوکه دطلاق نیت یی وی نو طلاق دی اوکه چیري په احترام اوپه بزرګی کی یی تشبیه مرادوی نونه ظهار دی اونه طلاق خو په دی چی دالفظ کنایه دی اوپه کنایاتو کی په دلالت حالی کی بلانیت هم دوقوع دطلاقو حکم کیږی ددی وجه دا موقعه چی چونکی دطلاقو ده نو ددی وجه یوطلاق بائن په دی الفاظو سره واقع سو، اوبیا په دوباره لفظ دطلاق سره دوه طلاق واقع سول، نو دده پر ښځی په دی صورت کی دری طلاقه واقع سوه اوبغیر دحلالی څخه ددی سره نکاح کول جائز نه دی، قال فی الدرالمختار وإن نوی بأنت علي مثل أمي أو كأمي وكذا لو حذف على، خانية، برا أو ظهارا أو طلاقا صحت نيته ووقع ما نواه لأنه كناية وإلا ينو شيئا أو حذف الكاف لغا وتعين الأدنى أي البر يعني الكرامة الخ وفی الشامی قوله لانه كناية ای من كنايات الظهار والطلاق ای ان قال الخ وينبغي ان لا يصدق قضاءً فی ارادة البر اذا كان فی حال المشاجرة وذكر الطلاق الخ (۲). فقط

په دی ویلو سره چی که ستا خواته راغی نو دمور خواته به راسی طلاق نه کیږی: سوال:

(۹۱۵) یوسړی دغصی په حالت کی خپلی ښځی ته وویل چی که زه ستا خواته راغلم نو دخپلی مور خواته به ځم ددی قسم کولو څخه یوڅو ساعته وروسته ښځه اوخاوند یو ځای سول، نو ددی قسم څه حکم دی، همدارنګه دده ښځه حائضه وه خو چی دکمی شپی

---

(۱) الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب الظهار ج۲ ص ۷۹۴. ط. س. ج۳ ص ۴۷۰. ظفیر
(۲) وګوری ردالمحتار باب الظهار ج۲ ص ۷۹۴. ط. س. ج۳ ص۴۷۰. ظفیر

چې داواقعه وه نو ددې څخه مخکې تریوه ورځ پوره وینه نه وه راغلې اوموده دحیض هم ختمه سوې وه لیکن ښځې غسل نه وو کړی اودغسل څخه مخکې دواړه هم بستر سوه؟

جواب: په عالمګیرۍ کې دي چې: ولو قال ان وطئتك وطئت امی فلا شيء علیه الخ (۱)، یعنی که چیري یو سړی خپلې ښځې ته دا وواییي چې که چیري زه ستاسره صحبت وکړم نو دخپلې مور سره به صحبت کوم نوپه دې سره هیڅ نه کیږي یعنی ظهار اوطلاق هیڅ هم نه کیږي نو معلومه سوه چې په دې صورت کې ددې پرښځې طلاق واقع نه سو، او دحیض دمودې دختمیدلو څخه وروسته دوطی په جواز اوعدم جواز کې داتفصیل دی چې که چیري زیاته موده دحیض لس ورځې پوره سوې وه نو دغسل څخه مخکې وطی جائز اوصحیح ده اوکه چیري دعادت سابقه موافق مثلا په شپږ یا اوه ورځو کې حیض منقطع سو نو په دې کې دجواز دوطی دپاره داشرط دی چې وروسته دانقطاع دحیض څخه دومره موده تیره سي چې په دې کې غسل اودجامو اغوستل اوتکبیر تحریمه دلمانځه وسي، نو چې کله یوه ورځ دانقطاع دحیض څخه وروسته تیره سوه نو وطی صحیح دي (۲). فقط

<u>دظهار دکفارې داداء کولو څخه بغیر دښځې سره همبستري کول</u>: سوال: (۹۱۶) دظهار څخه وروسته دکفارې داداء کولو څخه بغیر صحبت وکړی نو ددې نسبت څه حکم دی؟

جواب: په درمختار کې دي: فان وطی قبله تاب واستغفر وکفر للظهار فقط الخ (۳). یعنی که چیري مظاهر دکفارې ورکولو څخه مخکې وطی وکړي نو هغه دي توبه اواستغفار وکړي اوصرف کفاره دظهار دي ادا کړي. فقط

<u>دښځې سره یې ظهار وکی او بیایې درې طلاقه ورکړل بیایې حلاله وکړه، نو ددې څخه وروسته هم کفاره لازمه ده</u>: سوال: (۹۱۷) یوسړي خپلې ښځې ته وویل چې ته زما دمور او دخور برابر یې ، بیا لس منټه وروسته یې درې طلاقه مذکوره ښځې ته ورکړل، نو اوس دوباره داسړی نکاح ددې ښځې سره کولی سي، آیا داصورت دنکاح دصحت دپاره کیدی سي چې دخاوند دکشر ورور سره دښځې نکاح وکړي اوهغه وروسته ددخول څخه طلاق ورکړي او وروسته دعدې دتیرولو څخه اولنی خاوند ددې سره نکاح وکړي، نوکه

(۱) عالمګیری کشوری ج۲ ص ۵۲۲ باب الظهار. ط. س. ج۲ ص۵۰۷. ظفیر

(۲) واذا انقطع دم الحیض لاقل من عشرة ایام لم تحل وطئها حتی تغتسل الخ ولولم تغتسل ومضی علیها ادنٰی وقت الصلوٰة بقدر ان تقدر علی الاغتسال والتحریمة حل وطیها لان الصلوٰة صارت دینا فی ذمتها فطهرت حکما (هدایه باب الحیض ج۱ ص ۳۹). ظفیر

(۳) الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب الظهار ج۲ ص ۷۹۳. ط. س. ج۳ ص ۴۲۹. ظفیر

چیري داصورت صحیح وی نو ددوباره نکاح کولو څخه وروسته حکم دظهار باقی دی اوکه نه؟

جواب: که چیري دالفظ خاوند په نیت دظهار ویلی وو چی ته زما دمور اودخور برابر یی نو وروسته دحلالی دطلقات ثلثهٔ څخه چی مخکی خاوند ددی سره نکاح وکړی نوحکم دظهار به باقی وی یعنی دظهار دکفاری داداء کولو څخه بغیر ددی سره صحبت نه سی کولی ځکه چی په درمختار کی دی، فیحرم وطؤها علیه ودواعیه الخ حتی یکفر وان عادت الیه بملك یمین اوبعد زوج اخر الخ، په شامی کی دی چی، قوله وان عادت الیه الخ قال فی النهر افاد بالغایه ای بقوله حتی یکفر انه لو طلقها ثلاثا ثم عادت الیه تعود بالظهار الخ (۱) ص**۵۷۲** جلد ثانی شامی وفی، الدرالمختار ایضا وان نوی بانت علی مثل امی الخ براً اوظهاراً اوطلاقًا صحت نیته الخ (۲)، او دمطلقه ثلثه سره ددوباره دنکاح دجواز صورت چی په سوال کی لیکلی دی هغه صحیح دی مگر دا ضرور ده چی داولنی خاوند دورور سره دنکاح څخه وروسته دعدی تیریدلو څخه دی وکړی. فقط

ښځی ته په مور، خور، لور ویلو سره طلاق نه کیږي: **سوال**: (۹۱۸) خاوند ټوله شپه ښځی ته لور، خور، مور وایه اوښځی خاوند ته پلار، ورور، اکا وایه، نو په دی صورت کی پر دغه ښځی طلاق واقع سو اوکه نه؟

جواب: په دی صورت کی طلاق واقع نه سو، کمافی الدرالمختار لو حذف الکاف لغا (۳)، مگر داسی ویل مکروه دی اوائنده دی داسی نه وایي. فقط

ماته دمور برابر حرام وگڼلی په دې ویلو سره طلاق واقع کیږي اوکه ظهار؟ **سوال**: (۹۱۹) یوسړی خپلی ښځی ته دا وویل چی ماته دمور برابر حرام وگڼلی، نو په دی صورت کی طلاق واقع سو اوکه ظهار؟

جواب: دخاوند دالفظ چی ماته دمور برابر حرام وگڼلی، ددی الفاظو څخه دی چی په هغه کی دظهار اودطلاق نیت ددواړو صحیح دی، اوکه چیري دهیڅ هم نیت نه وی نو کم از کم ظهار ضرور ثابتیږي په عام طورسره خلګ دظهار څخه ناخبره وی هغه چی کله داسی الفاظ استعمالوی په یقین سره دطلاق او همیشه جداوالی او دپریښولو نیت یی وی نو په صورت مسئوله کی چی کله دخاوند دنیت حال معلوم نه دی نو دظاهری عرف په لحاظ سره داحکم کیدی سی چی دده ښځه مطلقه بائنه سوه اودعدی تیرولو څخه

---

(۱) وګوری ردالمحتار باب الظهار ج۲ ص ۸۹۲ – ۸۹۳. ط. س. ج۳ ص ۴۷۰. ظفیر

(۲) الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب الظهار ج۲ ص ۷۹۴. ط. س. ج۳ ص ۷۲۸. ظفیر

(۳) الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب الظهار ج۲ ص ۷۹۴. ط. س. ج۳ ص ۴۷۰. ظفیر

وروسته هغه دوهمه نکاح کولی سی، په درمختار کی دی چی: وبانت علی حرام کامی صح ما نواه من ظهار اوطلاق الخ وان لم ینو ثبت الادنٰی وهو الظهار الخ فقط والله تعالٰی اعلم ([1]).

ښځی ته دخور برابر ویلو څه اثر دی؟ **سوال**: (۹۲۰) یوسړی خپلی ښځی ته دخور برابر وویل خو په دی ویلو سره یی څه نیت نه وو، نو شرعي حکم څه دی؟

جواب: کله چی دویلو والا څه نیت نه وو نوکلام دده خطا دی طلاق وغیره به هیڅ واقع نه سی، کما فی الدرالمختار اولا ینو شیئا اوحذف الکاف لغا الخ ([2]). فقط

دواده مخکی ښځی ته دخور په برابر ویلو سره څه ګناه نسته: **سوال**: (۹۲۱) یوسړی چی دهغه ښځه نسته خپلی ښځی ته دخوربرابر وویل نواوس ده ته په نکاح کولوکی یادنکاح څخه وروسته خوبه څه ګناه نه وی؟

جواب: داکلام دده خطا دی او دنکاح څخه وروسته طلاق وغیره هیڅ نه کیږی. فقط

ښځی ته ووايي چی انا بیرته راسه نوپه دی سره خوبه طلاق نه کیږی؟ **سوال**: (۹۲۲) دهندې دچا سره جنګ وو، ددی خاوند زید په غصه کی وویل چی انا بیرته راسه چپ سه، نو پر هنده باندی خو په دغه الفاظو ویلو طلاق واقع نه سو؟

جواب: په درمختار اوشامی کی دی چی په داسی لفظ بلاحرف تشبیه ویلو سره طلاق وغیره هیڅ نسته اوهغه لفظ خطا کیږی، عبارت ددرمختار دادی چی: والا ینو شیئا او حذف الکاف لغا ([3]). فقط

ښځی ته یی وویل چی که چیری ماستا سره واده وکی نو دخپلی لور سره به می کړی وی نو څه حکم دی؟ **سوال**: (۹۲۳) یوسړی خپلی ښځی په وجه دبدچلنی په غصه کی راغی او وی ویل چی که چیري ماستا سره واده وکی نو زه به دخپلی لور سره یا دمور سره واده کوم، نو په دی صورت کی نکاح باقی ده اوکه نه؟

جواب: په دی الفاظو سره طلاق نه واقع کیږی اونکاح باقی ده کذا فی العالمګیریه ([4]).

تابه دخور برابر ګڼمه په دې ویلو سره طلاق واقع سو اوکه نه؟ **سوال**: (۹۲۴) بکر خپلی ښځی ته وویل چی ما اوریدلی دی چی ستاڅه ناجائز تعلق دعمر سره دی نو ترهغه وخته

([1]) ایضا. ط. س. ج۳ ص ۴۷۰. ظفیر

([2]) الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب الظهار ج۲ ص ۷۹۴. ط. س. ج۳ ص ۳۷۰. ظفیر

([3]) ایضا. ظفیر

([4]) وان قال لم اتزوجك ونوی به الطلاق لایقع الطلاق بالاجماع کذافی البدائع (عالمګیری کشوری کنایات ج۲ ص۳۹۳) وان قال ان وطئتك وطئت امی فلا شيء علیه (عالمګیری کشوری الظهار ج۲ ص۵۲۲. ط. س. ج۳ ص۵۰۷). ظفیر

پوری چی زه ددی تحقیق ونه کړمه نو تابه دخور برابر ګنمه نو په دی صورت کی دبکر پرښځی طلاق واقع سو اوکه نه؟

جواب: په دی صورت کی دبکر ښځی پربکر حرامه نه سوه اوپه دی باندی طلاق واقع نه سو کذا یظهر من الکتب (۱).

خاوند ته یی وویل چی ته زما دوړور غوندی یی نوطلاق واقع سو اوکه نه؟ سوال: (۹۲۵) دزید ښځی دخپل خاوند تمثیل دخپل حقیقی وړور سره وکی یعنی دایی وویل چی ته زما دحقیقی وړور غوندی یی نوپه دی صورت کی ښځه دنکاح څخه خارجیږی اوکه نه؟

جواب: په دی صورت کی نکاح قائمه ده اودښځی په دې ویلو سره هیڅ واقع نه سوه خو په شامی کی یی لیکلی دی چی که چیري خاوند ښځی ته مور خور بلا حرف التشبیه ووایي نودا مکروه دی، لیکن طلاق یاظهار په دی صورت کی هم نه کیږی (۲) نو ددی په بناء دښځی مذکوره الفاظ ویل هم ښه نه دی. فقط

په غصه کی یی ښځی ته وویل چی ته زما مور یی په پوښتنی یی وویل چی زما دهیڅ څه نیت نه وو: سوال: (۹۲۶) زید خپلی ښځی ته په حالت دغیظ اوغضب کی دا وویل چی ته زما موریی ، دزید څخه یی معلومات وکی چی ستا ددی لفظ څخه څه نیت وو نو ده داجواب ورکی چی په غصه کی می ویلی وه اوهیڅ نیت می هم نه وو په دی صورت طلاق واقع سو اوکه نه؟

جواب: په دی صورت کی طلاق واقع نه سو اونه ظهار وسو مګر دبیا دپاره دی داویل نه کوی ځکه مکروه دی په درمختار کی دی، والا ینو شیئا اوحذف الکاف لغا (درمختار) ویکره قوله انت امی الخ (۳).

ښځی ته یی وویل که چیري ستاسره جماع وکړم نو دمور اوخو رسره به یې وکړم په دی صورت کی څه حکم دی؟ سوال: (۹۲۷) زید خپلی منکوحی ته په حالت دجنګ کی او دغصه کی وویل چی که چیري ماستا سره جماع وکړه نو ګواکي دخپلی مور خور سره به یې کومه نو په داسی صورت کی طلاق واقع کیږی اوکه ظهار ؟

جواب: په عالمګیریه کی دی، ولو قال ان وطئتك وطئت امی فلاشيء علیه (۱)، نو ددی عبارت څخه معلومه سوه چی په صورت مسئوله کی طلاق اویا ظهار هیڅ څه ونه سوه.

---

(۱) ویکره قوله انت امی ویا ابنتی ویا اختی ونحوه (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ج۲ ص۷۹۴ باب الظهار ط. س. ج۳ ص ۴۷۰). ظفیر

(۲) ایضا. ط. س. ج۳ ص۴۷۰. ظفیر

(۳) الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ج۲ ص ۷۹۴ باب الظهار. ط. س. ج۳ ص۴۷۰. ظفیر

بغیر دنیت دطلاقو څخه ښځې ته خور ووایي نو څه حکم دی؟ سوال: (۹۲۸) که چیري یو سړی خپلې ښځې ته خور ووایي نو طلاق واقع سو اوکه نه؟ اوکه چیري یې نیت دطلاقو نه وو نوطلاق واقع سو اوکه نه؟

جواب: که چیري یوسړی خپلې ښځې ته خور یامور ووایي نو پرښځې دده طلاق نه واقع کیږي او همدارنګه ظهار هم نه کیږي نو دغه رکم ویل یعنی ښځې ته مور یا خور ویل مکروه دي، قال فی الدرالمختار والا ینوی شیئا اوحذف الکاف لغا الخ ویکره قوله انت امی ویا بنتی ویا اختی ونحوه وقال فی الشامی فقد صرحوا بان قوله لزوجته یا اخية مکروه وفيه حديث رواه ابوداود ان رسول الله ﷺ سمع رجلا يقول لامراته يا اخية فکره ذالك ونهی عنه [۲]، نو ددی روایت اوحدیث څخه ښکاره ده چې په صورت مذکوره کې په سوال کې نه طلاق کیږي اونه ظهار ، خو داقول مکروه دی لکه څه رکم چې مخکې تیر سوه. فقط

که ستاکورته داخل سوم نو دخپلې مور سره به بدفعلي کوم داویل لغوه دي: سوال: (۹۲۹) که چیري یوسړی خپلې ښځې ته ووایي چې دازما خور ده نوپه دی ظهار کیږي اوکه نه؟ اویا داووایي چې که چیري ستا کور ته داخل سومه نو دخپلې مور سره به بدفعلي کوم نو ددی څه حکم دی؟

جواب: که چیري ځوك خپلې ښځې ته ووایي چې دازما خور ده بغیر دحرف دتشبیه څخه نو دا لغوه دی اونه ظهار دی اونه طلاق، کذا فی الدرالمختار، اوکه چیري دایې وویل خپلې ښځې ته چې که چیري زه ستا کورته داخل سوم نو دخپلې مور سره به بدفعلي کوم نوداهم لغوه دی نه ظهاردی اونه طلاق، کما هو ظاهر من تعریف الظهار والا ینو شیئا او حذف الکاف لغا قال الشامی فی تحت قوله اوحذف الکاف بان قال انت امی الخ وقال الشامی والذی فی الفتح وفی انت امی لایکون مظاهراً (الی ان قال) فعلم انه لابد فی کونه ظهاراً من التصریح باداة التشبیه شرعًا اهـ شامی وقال فی الدرالمختار فی تعریفه وشرعا تشبیه المسلم زوجة الی قوله بمحرم علیه تابیداً الخ [۳].

دیارلسم باب

دنامرد، مجنون، متعنت اودنورو عیبونو والا په وجه سره دنکاح دتفریق اودفسخ احکام اومسائل

دنامرده سره هم نکاح کیږي او بغیر دطلاقو څخه دوهمه نکاح جائز نه ده: سوال: (۹۳۰) دیو

---

(۱) عالمگیری کشوری الباب التاسع فی الظهار ج۲ ص۵۲۲، ط. ماجدیة ج۱ ص۵۰۷. ظفیر

(۲) وګوری ردالمحتار باب الظهار ج۲ ص۷۹۴. ط. س. ج۳ ص۴۷۰. ظفیر

(۳) ایضاً . ظفیر

سړی نكاح په حالت دبلوغ كی ديوی انجلی سره وويل سوه، ددی څخه وروسته معلومه سوه چی هلك نامرد دی اوحق دزوجيت نه سی اداء كولی، نو اوس دواده يو نيم كال سوی دی چی تراوسه پوری دمرد والی څه علامات ظاهر نه سوه، نوسوال دادی چی دا نكاح جائزده اوكه نه؟ اوهلك طلاق هم نه وركوی، نواوس شريعت څه حكم وركوی؟

جواب: خاوند كه چيري نامرد دی نونكاح منعقده سويده نوچونكی په دی زمانه كی شرائط دفسخ متحقق نه دی نو چی تركمه پوری خاوند طلاق ورنه كړی نو جداوالی به نه كيږی اوښځی ته به دوهمه نكاح كول جائز نه وی (١) (اوس علماؤ په اتفاق سره دفسخ صورت را ايستلی دی، په شرعی جرګه كی دی دعوه دائره سی او يا په دار القضآء كی. ظفير). فقط

دنامرد دښځی دوهمه نكاح بغير دطلاقو څخه نسی كيدی: **سوال**: (٩٣١) ديوی نابالغی انجلی عقد ددی مور اوپلار وكی، وروسته دبلوغ څخه انجلی خپل خاوند نامرد پيدا كړی، هرڅومره چی يی علاج اومعالجه وكړه نو ډاكټرانو جواب وركی چی داتندرست كيدی نسی، تردری څلورو كالو پوری يی علاج وكی خو څه فائده ونه سوه نو په ذكر سوی صورت كی ددغه ښځی دوهمه نكاح بغير دطلاقو څخه كيدی سی اوكه نه؟

جواب: قال فی الدرالمختار والا بانت بالتفريق من القاضی ان ابی طلاقها بطلبها الخ (٢) وفيه ايضا ولاعبرة بتاجيل غير قاضی البلد الخ (٣)، نوددی څخه واضحه سوه چی په صورت مسئوله كی چونكی تاجيل اوتفريق دقاضی شرعی په ذريعه ونسو نو ددی وجه څخه نكاح ختمه نه سوه اوبلا طلاقه داولنی خاوند اوبدون انقضاء العدت څخه دی ښځی ته دوهمه نكاح كول جائز نه دی. فقط

دنامرد ښځه به دوهمه نكاح څنګه كوی؟ **سوال**: (٩٣٢) وجدت زوجها عنينا فصبرت معه مدة كثيرة وهو يعالج مرضه فلم يبرأ من مرضه وهی لاتستطيع الصبر وتطلب منه الفرقة فما ذا يفعل في هذا الملک (الدولة) لعدم القاضي وان قال الزوج المذكور لامرأته والله لا اقربها يعني الزوجة حتى اشفى من مرض العنة فهل يكون هذا ايلاء ام لا؟

جواب: قال فی الدرالمختار فان وطی مرة فبها والابانت بالتفريق من القاضی (٤) وقال قبيله ولاعبرة بتاجيل

---

(١) اذا وجدت المراة زوجها مجبوبا الخ فرق الحاكم بطلبها الخ بينهما (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب العنين وغيره ج٣ ص ٨١٢. ط. س. ج٣ ص ٤٩٤) په دی زمانه كی دتفريق څه صورت دی نو ددی دپاره وګوری الحيلة الناجزة للتهانوی، اوكتاب الفسخ والتفريق للرحمانی. ظفير

(٢) الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب العنين وغيره ج٣ ص ٨١٩. ط. س. ج٣ ص٤٩٨. ظفير

(٣) ايضا ج٣ ص ٨١٨. ط. س. ج٣ ص ٤٩٨. ظفير =

غیر القاضی الخ ([1]) فعلم انه لا یتصور التفریق في صورة عدم القاضي وانما یحصل التفریق بالطلاق من الزوج او الخلع، وبقوله لا اقربها حتی اشفی من العنة لا یکون مولیاً لانه یمکن ان یشفی قبل مدة الایلاء ویطأها کما قال في الدرالمختار او قال وهو بالبصرة والله لا ادخل مکة وهي بها لا یکون مولیاً لانه یمکنه ان یخرجها منها فیطأها (درمختار) ای فی المدة من غیر شيء یلزمه الخ شامی ([2])، جلد ثانی ص ۵۵۰. فقط

په نابالغ والی کې دیو نامرد سره نکاح وسوه نو اوس څه وکړي؟ **سوال**: (۴۳۳) دزید نکاح دیوی نابالغه سره وسوه په دی وخت کی انجلی راضی وه اودیته داعلم نه وو چی زید نامرد دی دزید مور اوپلار ډیر علاجونه وکړه خو څه فائده ونه سوه دنکاح دوه کاله سوي دی اوس انجلی ډیره پښیمانه ده اوازادی غواړی، نو دزید څخه دازادی اخیستلو ضرورت دی اوکه نه؟ اوکه چیري زید ازادی ورنه کړی نو څه وکړی ؟

جواب: دزید سره یی نکاح سویده خو په دی شرط چی دانجلی نکاح ددی ولی کړی وی، اوس که چیري طلاق ورکړی نو دمطلقی نکاح به صحیح سی اوبغیر دطلاق ورکولو څخه دوهمه نکاح صحیح نه ده دزید څخه به طلاق واخلی نوکه چیري هغه طلاق ورکړی نو طلاق به واقع سی ([3]). فقط

دنامرد سره نکاح جائز ده اودجدا والی دپاره قاضی ته درخواست کول په کاردي: **سوال**: (۹۳۴) که چیري دیوی انجلی نکاح دیو نامرد هلك سره وسی اوهلك پیداسی نامردوی اویا وروسته دوطی څخه نامرد سوی وی نوپه دواړو صورتونو کی نکاح صحیح ده اوکه نه؟ نوکه چیري صحیح سوه نو اوس کله چی بالکل نامرد اولا علاج ثابت سو نو دده دښځی دپاره شرعا څه حکم دی؟ چی کله خاوند په رضاء سره طلاق نه ورکوی؟

جواب: که چیري خاوند داول څخه نامرد وو یا وروسته دنکاح څخه نامرد سو نو په دواړو صورتونوکی نکاح صحیح سوه لیکن په دوهم صورت کی چی کله خاوند وروسته دنکاح څخه نامرد سویدی اوجماع یی کړیده نوښځی ته هیڅ اختیار دفسخ دنکاح نسته او په مخکنی صورت کی کله چی خاوند اول نامرد دی اووطی یی بالکل ونه کړی نو ښځی ته دادعویٰ رسیدی سی چی خاوند فریاد وکړی اودعویٰ وکړی اوقاضی دی په دی دعویٰ باندی خاوند ته یوکال مهلت په غرض دعلاج ورکړی نوکه چیري روغ سو اوپر وطی قادر سو نو ډیره ښه ده، کنې که ښځه جداوالی غواړی نوقاضی دی جداوالی وکړی

([4]) وګوری حواله سابقه ج۳ ص ۸۱۹. ط. س. ج۳ ص۴۹۸. ظفیر

([1])الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب العنین وغیره ج۳ ص ۸۱۸. ط. س. ج۳ ص ۴۹۷. ظفیر

([2]). وګوری ردالمحتار للشامی باب الایلاء ج۲ ص ۷۵۷. ط. س. ج۳ ص ۴۲۹. ظفیر

([3]) ویقع طلاق کل زوج اذا کان عاقلا بالغا (هدایه کتاب الطلاق ج۲ ص۳۳۷ ط. س. ج۳ ص۲۳۵. ظفیر

او بغیر دتاجیل اوجدا والی دقاضی څخه به وروستوالی اوجدا والی نه کیږی کذافی الدر المختار (۱)، مګر په دی زمانه کی قاضی نسته نو خاوند ته به دطلاقو ووایي نوکه چیري هغه طلاق ورکړی نو جداوالی به وسی اوښځی ته به دوهمه نکاح کول جائز سی اوکه چیري خاوند طلاق ورنه کړی نو دجداوالی څه صورت نسته (۲). فقط

دعنین ښځه که چیری په خپله فسخ وکړی نو هغه ته به دیوکال دمودی مهلت ورکوی اوکه نه؟

سوال: (۹۳۵) دیونابالغ هلك نكاح په ولایت دده داکا دیوی انجلی سره سویده دبلوغ څخه وروسته هغه هلك فاتر العقل اوعنین ثابت سو اوپخپله هغه دخپل عنین کیدو اقرار کوونکی دی اوحکیمانو اوډاکټرانو هم دی لاعلاج ثابت کړیدی هرڅومره کلونه چی هغوی یی دوایي وکړه خو هغه ته څه فائده ونه سوه نو انجلی چونکی عاقله اوبالغه ده اویو نیم کال په خپل کورکی ناسته ده نو هغه جداوالی غواړی دخاوند دعنین کیدو څخه علاوه ددماغ ګډوډ والی هم ورته سته اودښځی دنان اودنفقی برداشت هم نسی کولی، مګر سره دمطالبی دجداوالی خاوند محض دضد او سرکښی دوجه څخه دطلاقو څخه انکار کوی، حالانکی دده اکا هم په جداوالی راضی دی خاوند داښځه ډیره په تنګوالی اوپه سختیوکی اچولی ده نو ددغه وجه څخه که دصاحبینو په قول چی (ظاهر الروایة اومفتٰی به دی) عمل وکړی اوخپله نکاح فسخ کړی نوشرعًا جائزدی اوکه نه؟ قال فی مجمع الانهر ج اول ص۴۲۲ وعنهما انها کما اختارت نفسها تقع الفرقة باختیارها وظاهر الروایة کما فی المضمرات، وفی ردالمحتار جلد ثانی ص ۲۴۷ وقیل یکفی اختیارها نفسها ولایحتاج الی القضآء کخیار العتق قیل وهو الاصح کذا فی غایة البیان وجعل فی المجمع الاول قول الامام والثانی قولهما نهر وفی البدائع عن شرح مختصر الطحاوی ان الثانی ظاهر الروایة ثم قال وذکر فی بعض المواضع ان ما ذکر فی ظاهر الروایة قولهما الخ، نوکه دصاحبینو په قول عمل وکړی اوښځی ته فسخ کول دنکاح صحیح وی نو آیا په صورت موجوده کی به دتاخیر دمیعاد دیوکال ضرورت به وی اوکه نه؟ ترڅو کالو پوری خاوند دواء کړیده او دده عنین والی معلوم سوی دی اوپه خپله هم اقرار کوونکی دی، نو دنکاح دفسخ دپاره هغه اوږدوالی دزمانی اوعلاج کول، اویقینی

---

(۱) ولو وجدته عنینا هو من لا یصل النساء لمرض الخ اجل سنة لاشتمالها علی الفصول الاربعة قمریة بالاهلة فان وطی مرة فبها والا بانت بالتفریق من القاضی ان ابی طلاقها یطلبها الخ (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب العنین وغیره ج۳ ص ۸۱۸. ط. س. ج۳ ص ۴۹۲ - ۴۹۸). ظفیر

(۲) وروسته علماؤ دمسلمانانو جرګه دقاضی قائم مقام منله ده اوهغه جرګه به دقاضی فرائض سرته رسوی دتفصیل دپاره وګوری الحیلة الناجزه للتهانوی، اودلته په بهار او اړیسه کی ترامارت اسلامی لاندی قاضی مقرر دی.

والی دمرض به کافی وی اوکه نه دنوی تاخیر ضرورت به وی؟ که چیري ضرورت وی نو حسب روایات فقهیه بدون قاضی تاخیر نسی کیدی، قال فی الوقایه اجله الحاکم وفی مجمع الانهٰر ولاعبرة لتاجیل غیر الحاکم کائنا من کان آه وفی درر المنتقی ولاعبرة بتاجیل غیره آه وفی الدرالمختار ولاعبرة بتاجیل غیر قاضی البلدة آه وکذا فی رد المحتار وغیره، اوقاضی شرعی دلته مفقود دی نو دصاحبینو په قول که عمل وکړی نو دفسخ کولو کم صورت کیدی سی؟

۲\ په فتاوٰی خیریه جلد ثانی ص۱۲ کی دی، سئل فی العنین اذا جعل بینه وبین زوجته محکمین فاجلوه سنة مضت هل لهم ان یفرقوا بینهما اذا طلبت ام لا؟ اجاب: نعم، یصح التحکیم في مسئلة العنین لانه لیس بحد ولا قود ولا دیة علی العاقلة ولهم ان یفرقوا بطلب الزوجة، والله اعلم، ددی فتوٰی څخه معلومیږی چی دحَکَم په ذریعه سره تاجیل او تفریق اسان اوممکن دی که چیري دخاوند عنین کیدل ثابت سی اوزید په خپله اقرار کوونکی دی اوحکیم ډاکټر هم وایي اودوا یې هم ډیر کلونه کړیده نوکه چیري حَکَم بغیر دتاجیل جدید څخه نکاح کړیده نو دافسخ به کافی وی اوکه نه؟ آیا بغیر دتاجیل جدید څخه فسخ جائز نه ده؟

۳\ که چیري دعنین خاوند څخه ددی مضمون وکالت نامه ولیکل سی چی زما ښځه مسماة فلانکۍ چی دفلانکی لور ده چی زما په نکاح کی ده زما دمرض دوجه څخه جدا والی غواړی نو ددی دپاره په دی معامله کی ددی جګړی په فیصله کولو کی زه فلانی سړی وکیل مقرر کومه اودنن څخه یوکال دپاره فلانی سړی ته ټول اختیار ورکوم نو چی زما دمذکوره ښځی په هکله چی څنګه فیصله کوی ماته منظوره ده اودکال دننه ماته دوکیل دلیری کولو اختیار نسته بلکی چی کله یې زه معزول کړم نوزما وکیل دی وروسته ددی تحریر څخه که چیري وکیل دعنین ښځه په دی مجلس کی یا وروسته تر مجلس مخکی دعزل څخه طلاق بائن یو یا دوه یادری ورکړی نو طلاق به واقع سی اوکه نه؟ په فتاوٰی قاضی خان جلد ثانی ص۵۲۳ کی دی چی: ولو قال وکلتک في جمیع أمور التي یجوز بها التوکیل کانت الوکالة عامة تتناول البیاعات والاجارات والأنکحة وکل شيء وعن محمد لو قال هو وکیلي في کل شيء جائز ضعته کان وکیلا في البیاعات والهبات والاجارات وعن ابي حنیفة رحمه الله انه یکون وکیلا في المعاوضات دون الهبة والعتاق وقال مولانا رضی الله عنه وهذا کله اذا لم یکن في حال مذاکرة الطلاق فان کان في حال مذاکرة الطلاق یکون وکیلا بالطلاق اهـ وفی الدرالمختار جلد ثانی ص۵۲۸ واذا قال لرجل ذالک ای قال له طلقه امرأتی اوقال لها طلقی ضرتک لم یتقید بالمجلس

لانه توکیل فله الرجوع الا اذا زاد کلما عزلتک فانت وکیل الخ.

جواب: ۱- ۲. دعامو کتابونو او دقواعدو دفقه څخه جداوالی دقاضی کیدل په دی کی ضروری دی اوهمدغه معلومیږی، په درمختار کی دی: وشرط للکل القضاء الا ثمانیه (۱)، بیایې تفریق په وجه دعنین کیدو په دی کي شمارکړی چی په هغه کی قضاء دقاضی شرط ده، اوهم دارکم په درمختار باب العنین کی دی چی: والا بانت بالتفریق من القاضی لانها فرقة قبل الدخول الخ (۲). قوله من القاضی ان ابی طلاقها ای ان ابی الزوج لانه وجب علیه التسریح بالاحسان حین عجز عن الامساك بالمعروف فاذا امتنع کان ظالما فتاب عنه واضیف فعله الخ (۳) ددی څخه وروسته یی په قیل سره یی عدم احتیاج دقضاء بیان کی، اوکه چیري دتفریق لپاره یی قضاء شرط نه سی نو بیا هم دتاجیل دپاره قضاء ضروری ده اودا تاجیل به جدید وی اول معالجه اودوایي کول دی اوپه تاجیل کی به شمار نه (۴) وی اوکه چیري حکم قائم مقام دقاضی په دی موقع کی وسی لکه څه رکم چی دبعضو کتابونو څخه ښکاره ده اوبعضو فقهاؤ ددی انکار کړیدی، نو دحکم تفریق فی الحال کول صحیح نه دی بلکی وروسته دتاجیل جدید څخه هغه تفریق کولی سی.

۳. په ښکاره ددی تحریر غرض دادی چی داوکیل حکم جوړول منظور دی چی هغه په تفریق اوپه تاجیل کی چی څه حکم کوی نوهغه ماته منظور دی نوچی دکمو خلګو په نزد دتاجیل حکم معتبردی نو ددوی دقول مطابق حکم به دا کول کیږی چی که خاوند لره یی که چیري دیوکال مهلت ورکی اوهغه ښه نه سو نو په طلب دښځی دی تفریق وکړی لیکن حکم هلته چی ښځه هم دغه رکم دوی ته اختیار ورکړی (۵) اوپه ښکاره داوکالت نه دی لکه څنګه چی دسیاق اودسباق دروایت څخه معلومیږی. فقط

کله چی نامرد خاوند ښځی ته طلاق ورنه کړی نو ښځه به څه کوی؟ سوال: (۹۳۲) دیوی شپاړس کلنی انجلی نکاح دزید پنځه ویشت کلن سره وسوه وروسته دخلوت څخه معلومه سوه چی خاوند نامرددی اوپه طلاق ورکولو نه راضی کیږی نو په دی صورت کی ښځی ته جداوالی دنامرد خاوند څخه څه رکم کیدی سی؟

---

(۱) الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب الخ . ظفیر

(۲) الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب العنین ج۲ ص ۸۱۹ – ۸۲۰. ظفیر

(۳) ردالمحتار باب العنین وغیره ج۲ ص ۸۲۰. ظفیر

(۴) ولو وجدته عنینا الخ اجل سنة الخ فان وطی مرة فبها والا بانت بالتفریق (الدرالمختارعلی هامش ردالمحتار باب العنین ج۲ ص ۸۱۸). ظفیر

(۵) ولا عبرة بتاجیل غیر قاضی البلدة (درمختار) فلا یعتبر تاجیل المراة ولا تاجیل غیرها ولایعتبر تاجیل غیر الحاکم کائنا من کان وظاهره ولو محکما تامل (ردالمحتار باب العنین وغیره ج۲ ص ۸۱۸). ظفیر

جواب: كله چې قاضي شرعي موجود نه وي لكه څه ركم چې په دې زمانه كې ده نو ماسوا ددې څخه چې خاوند طلاق وركړي نورې څه لارې دجدايي په دې زمانه كې نسته ځكه چې تاجيل اوتفريق چې كم دقاضي شرط دې هغه مفقود دې (اوس په دې زمانه كې دعلماؤ په اتفاق سره جماعت المسلمين اودار القضاء قائمې سويدي نو ددې په ذريعه دې كار روايي وكړي نو تفريق حاصليدلی سي (۱). ظفير)

ښځه پرزنا مجبوره كولو باندې چې خاوند يې نامرد دې ښځه څه وكړي: **سوال**: (۹۳۷) زيد عنين دې اودده ښځه طلاق غواړي اودی طلاق نه وركوي اوښځه پر زنا باندې مجبوروی اوحواله ورته يې كوي اوهغوی دې ته خوراك هم وركوي نو په داسې حالت كې دده ښځه بغير دطلاقو څخه دوهمه نكاح كولی سی اوكه نه اوهغه مسلمان دې اوكه نه؟

جواب: هغه سړی چې داسې دبې حيايي كار كوي نودغه فاسق اوديوث دې مګر منكوحه دده بغير دطلاقو دده دنكاح څخه نه خارجيږي او دوهمه نكاح ددې به صحيح نه وي او هغه په دې كار كافر نه سو (په ذريعه ددار القضاء اودشرعي جرګې سره دي داسې نكاح فسخ كړي اودداسې خاوند څخه دې نجات حاصل كړي په هندوستان كې ځای پرځای دار القضاء اوشرعي جرګې قائمي سويدي (۲). ظفير)

نامرد چې كله دعلاج څخه وروسته قادرسي نوڅه حكم دی؟ **سوال**: (۹۳۸) زماښځه وروسته دواده څخه ترڅه موده پورې زما سره وه، په دې موده كې مې روزانه دكوروالی كوشش كوی ليكن په وجه دكمزوري دقوت باه پر ښځې باندې قادر نه سوم نو دښځې په استغاثه سره يومولوي صاحب ماته يوكال مهلت راكړی په دې شرط چې كه چيري په كال كې هم وروسته دعلاج څخه زه روغ سومه نو ښځه به زما په زوجيت كې وی كنې نو طلاق به واقع سی، ليكن ديوكال څخه وروسته مولوي صاحب ماته نوټس راكړی چې ښځه ستا دزوجيت څخه وتلې ده اوزه په دې وخت كې پر كوروالی باندې قادر سوی يم ليكن ښځه زما سره نه ليږي اودا وايي چې پردې باندې طلاق واقع سو.

جواب: حكم شرعي دادی چې خاوند ته وروسته دمهلت وركولوڅخه به يوكال كتل كيږي چې هغه پركوروالی قادردی اوكه نه؟ نوكه چيري قادروی نوتفريق به نه كوی اوكه چيري بيايې هم قدرت نه وو اوښځه تفريق غواړي نو بيا قاضي ياحكم تفريق كولی سی نو چې كمه فيصله ددې مولوي صاحب ده هغه غلطه ده اوحكم شرعي دانه دی او دده په وينا سره تفريق نه كيږي اوښځه ددستورموافق دخاوند په نكاح كې ده، ولو وجدته عنينا فان

(۱) و(۲) دتفصيل دپاره وګوری كتاب الفسخ والتفريق، او، الحلية الناجزة. ظفير

وطی مرة فبها والا بانت بالتفریق من القاضی الخ بطلبها الخ (۱). فقط

دجذامی سره دده ښځه نه اوسیږی، نو تفریق کیدی سی اوکه نه؟ سوال: (۹۳۹) زید جذامی سویدی دده ښځه هنده وتښتیده اوعمر ته تللی ده اودزید سره تلل نه خوښوی اوزید دطلاق ورکولو څخه منکردی نوکه دامام شافعی په مسلك عمل وکړی نو په دواړو کی تفریق کیدی سی اوکه نه؟

جواب: په درمختار کی یی لیکلی دی چی داحنافو په علماؤ کی دامام محمد هم دا مذهب دی چی په دی صورت کی حکم دتفریق کولی سی، وخالف الائمة الثلاثه فی الخمسة مطلقا ومحمد فی الثلاثه الاول بالزوج ولوقضی بالرد صح (۲). فقط

دنان او دنفقی نه ورکولو په صورت کی جدا والی نسی کیدی: سوال: (۹۴۰) یوسړی خپله ښځه داوو اتو کاله څخه خپل ځای ته نه بیایی اونه ورته طلاق ورکوی اونه دنفقی څه انتظام کوی، نو انجلی دوهمه نکاح کول غواړی شرعًا یی کولی سی اوکه نه؟

جواب: په درمختار کی دی چی، ولایفرق بینهما بعجزه عنها بانواعها الثلاثة الخ، اوپه شامی کی دی، قوله بانواعها الخ وهی مأکول وملبوس ومسکن، ددی روایت څخه معلومه سوه چی که چیري خاوند ښځی ته نان اونفقه ورکړی اوحقوق دزوجیت نه اداء کوی نوپه دی سره په ښځی اوخاوندکی جداوالی نسی کیدی، البته خاوند به مجبورولی سی چی یاطلاق ورکړی اویاحقوق دزوجیت اداء کړی، بغیر دطلاق ورکولو دخاوند څخه ددی انجلی دوهمه نکاح جائز اوصحیح نه ده البته دبعضو ائمه وو مذهب په دی صورت کی په وجه دضرورت دتفریق کولو دی، نوکه چیري قاضی حنفی خپل نائب داسی سړی جوړ کړی چی دهغه مذهب دجداوالی دی اوهغه تفریق وکړی نو بیا قاضی حنفی دانافذه کولی سی، قال فی غرر الا ذکار ثم اعلم ان مشائخنا استحسنوا ان ینصب القاضي الحنفي نائبًا ممن مذهبه التفریق بینهما اذا کان الزوج حاضراً وابی عن الطلاق لان رفع الحاجة الدائمة لا یتیسر بالاستدانة اذ الظاهر انها لا تجد من یقرضها وغنی الزوج مالاً امر متوهم فالتفریق ضروري اذا طلبته الخ (۳)، (اوس علماء احنافو هم ددار القضاء او دجماعت المسلمین په ذریعه دتفریق اجازه ورکړیده، وګوری الحیلة الناجزة للتهانوی. ظفیر). فقط

---

(۱) الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب العنین وغیره ج۲ ص ۸۱۸. ط. س. ج۳ ص ۴۹۲. ظفیر

(۲) ردالمحتار باب العنین وغیره ج۲ ص ۸۲۲. ط. س. ج۳ ص ۵۰۱. ظفیر

(۳) الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب النفقة مطلب فی فسخ النکاح بالعجز عن النفقة ج۲ ص ۹۰۳. ط. س. ج۳ ص ۵۹۰. ظفیر

دمتعنت خاوند سره دامام شافعي په مسلک تفریق کيدلی سي: **سوال**: (۹۴۱) دهندی نکاح دزید سره سویده شپاړس کاله وسوه چی تراوسه پوری دخپل پلار اودمور په کورکی ده نو تراوسه پوری زید داخپل کور ته را ونه بلله اونه یی نان او نفقه ورکړه اونه طلاق ورکوی، هنده ناجوړه ده اودطبیبانو رایه داده چی بغیر دنکاح څخه ختمیدل دمرض اسان نه دی نوکه چیري واده ونه سو نو دهلاکت خطره ده نو دوهمه نکاح دهندی جائزده اوکه نه؟

جواب: اصل مذهب داحنافو په دی باره کی دادی چی بغیر دخاوند دطلاقوڅخه جداوالی نه سی کیدی لکه چی څنګه په درمختار کی دی: ولا یفرق بینهما بعجزه عنها بانواعها الثلاثة ولا بعدم ایفائه لوغائبا حقها وجوزه الشافعی باعسار الزوج وبتضررها بغیبة ولو قضی به حنفی لم ینفد نعم لو امر شافعیا فقضٰی به نفذ اذا لم یرتش الآمر والمامور (۱)، او په هدایه کی دی چی، ومن اعسر بنفقة زوجة لم یفرق بینهما ویقال لها استدینی علیه وقال الشافعی یفرق لانه عجز عن الامساك بالمعروف فینوب القاضی نیابه فی التفریق الخ (۲)، ددی څخه معلومه سوه چی حنفی مذهب په دی صورت کی دتفریق نه دی لیکن دضرورت په وجه که چیري دامام شافعی دمذهب موافق فتوٰی ورکول سی اودقاضی شافعی څخه تفریق وسی نو صحیح ده، کذافی الشامی.

دلیونی ښځه څه وکړی؟ **سوال**: (۹۴۲) زید په کوچنی انجلی په ولایت ددی دپلار نکاح وکړه اودپلار په کور کی پاته سوه مخکی ددی څخه چی منکوحه بلوغ ته ورسیږی زید لیونی سو اوس چی منکوحه بلوغ ته رسیدلی ده نوزید هغې ته هیڅکله متوجه نه دی او دمجامعت دکار څخه معطل دی نو تفریق دزید اودښځی په مینځ کی اودوهمه نکاح کول جائز دی اوکه نه؟

جواب: قال فی الدرالمختار ولا یتخیر احد الزوجین بعیب فی الاخر ولو فاحشا کجنون وجذام وبرص الخ (۳) وقال الشامی قوله ولا یتخیر الخ ای لیس لواحد من الزوجین خیار فسخ النکاح بعیب الآخر عند ابی حنیفة وابی یوسف الخ (۴)، نومعلومه سوه چی مذهب دامام ابوحنیفة رحمه الله عدم تفریق دی په صورت مذکوره کی اوعدمِ جواز دی په نکاح ثانی کی. فقط

---

(۱) ایضا. ظفیر

(۲) هدایه باب النفقة ج۲ ص ۴۱۲. ظفیر

(۳) الدرالمختار باب العنین وغیره ج۱ ص۲۵۴. ظفیر

(۴) ردالمحتار باب العنین وغیره ج۲ ص ۸۲۲. ط. س. ج۳ ص ۵۰۱. ظفیر

دلیونی دښځی دپاره جداوالی دی اوکه نه؟ ددی په دوهم مذهب عمل کول په دی سلسله کی څنګه دی؟ سوال: (۹۴۳) دهغه ښځی چی خاوند یی لیونی سویدی نو بغیر دتفرقه دقاضی شرعی اوپه شرط دنه کیدلو دقاضی شرعی بی حکم دحاکم دوقت څخه فسخ دنکاح کیږی اوکه نه؟ په دی بلادو کی چی قاضی شرعی عدیم الوجود دی نوحکم دانګریزی حاکم قائم مقام دقاضی شرعی کیدی سی اوکه نه؟ اوحنفی لره عمل په بل مذهب روا دی اوکه نه؟

جواب: قال فی الدرالمختار ولایتخیر احد الزوجین بعیب فی الاخر ولو فاحشًا کجنون وجذام وبرص الخ ([1])، نوتفریق په مینځ دمجنون اودده په ښځی کی عند الحنفیة علی المذهب الصحیح الراجح صحیح نه دی اوکه چیري قاضی حنفی وی هغه لره هم نه روا کیږی چی تفریق ددوی په مینځ کی وکړی، نو په صورت دنه کیدلو دقاضی په هیڅ وجه جداوالی صحیح نه دی اوحاکمان دوخت په حکم کی دقاضی شرعی نه دی، البته حَکَم مسلمان دفریقینو به په حکم دقاضی کی وی لیکن دطرفه دمجنون داهم متصوره نه ده البته که چیري قاضی شافعی المذهب وی دمثال په طور اوهغه حکم دفسخ وکړی نو صحیح ده اوحنفیانو لره په دی صورت کی په بل مذهب باندی عمل کول صحیح ([2]) نه دی (دحالاتو څخه دمجبورتیا په اساس علماؤ احنافو هم دجداوالی صورت را ایستلی دی او ددی اجازه یی ورکړیده ددی دپاره وګوری کتاب الفسخ والتفریق لمولانا الرحمانی، اویا الحیلة الناجزة للتهانوی. ظفیر). فقط

خاوند چی کله خبر وانه اخلی نو ښځه دجداوالی دپاره څه وکړی؟ سوال: (۹۴۴) دیوی ښځی نکاح دعبد الحی سره وسوه وروسته دنکاح څخه معلومه سوه چی ددی خاوند سخت لوفر اوعیش پرست دی نو څو ورځی وروسته هغه خپلی منکوحی ته تکلیف رسوی تردی پوری چی نان او نفقه یی بنده کړه اودکور څخه یی وایسته دڅلورو کالو څخه دمور اودپلار په کور کی ده اودګذاری یی څه صورت نسته نو په دی صورت کی دښځی اودخاوند په مینځ کی تفریق کیدی سی اوکه نه؟

جواب: په داسی صورت کی خاوند حقوق دزوجیت نه اداء کوی، اونفقه نه ورکوی نو ده ته لازمه ده چی ښځی ته طلاق ورکړی نو دی دی مجبوره کړل سی اوزور دی باندی وسی

([1]) الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب العنین وغیره ج۲ ص۸۲۲. ط. س. ج۳ ص۵۰۱. ظفیر

([2]) اوس علماؤ یوه بله لاره را ایستلی ده ددی دپاره وګوری الحیلة الناجزه للتهانوی، ظفیر

چې په يوډول سره هغې ته طلاق ورکړی (۱)، بغير دطلاقو څخه عند الاحناف وغيره دنه ورکولو په وجه سره دښځې اودخاوند په مينځ کې جداوالی نسی کيدی کذافی الدر المختار (۲) (وروسته علماؤ دتفريق صورت راايستلی دی چې دقاضيِ شريعت يادشرعی جرګې په ذريعه کيدی سی، دتفصيل دپاره وګوری الحيلة الناجزة للتهانوی، بحث زوجۀ متعنت. ظفير). فقط

چې خاوند دبدو طريقو والا وي اودښځې حقوق نه اداء کوي نو ښځه جلا کيدی سی اوکه نه؟

سوال: (۹۴۵) زيد ډمی ګډوی اوشراب چښی اوحقوق دزوجيت نه اداء کوی اونان اونفقه نه ورکوی اوبله ښځه غير منکوحه ساتی نو په داسی حالت کی دزيد ښځه دزيد څخه جلا کيدی سی اوکه نه؟

جواب: قال فی الدرالمختار ولايفرق بينهما بعجزه عنها بانواعها الثلاثة ولابعدم ايفائه لو غائبا حقها الخ (۳)، نو ددی روايت څخه معلومه سوه چې دنان اونفقې دنه ورکولو په صورت کی دښځې اودخاوند په مينځ کی تفريق نسی کيدی، دغه رکم په نورو امورو کی هم عند الحنفية دتفريق حکم نسته البته په داسی حالت کی په ناموافقت اوپه خوف او خطری کی ضروری ده چې څنګه هم کيدی سی دخاوند څخه دی طلاق واخلی نو وروسته دطلاقو اودعدی تيريدلو څخه به دوهمه نکاح ددی صحيح وی بغير دطلاقو څخه دخاوند اول څخه دوهمه نکاح درسته نه ده (۴) (اوس علماؤ دمتعنت څخه دجدا والی شکل را ايستلی دی ددی دپاره وګوری الحيلة الناجزة للتهانوی. ظفير)

دنان او نفقې نه ورکولو والا خاوند سره نکاح به فسخ وي اوکه نه؟ **سوال**: (۹۴۶) يوسړی خپلی ښځې ته نان او نفقه نه ورکوی اونه ددی مهر ادا کوی چې معجل وو نو په داسی

---

(۱) ويجب ای الطلاق لو فات الامساك بمعروف (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار کتاب الطلاق ج۲ ص ۵۷۲. ط. س. ج۳ ص ۲۲۹). ظفير

(۲) ولا يفرق بينهما بعجزه عنها بانواعها الثلاثة ولابعدم ايفائه لوغائبًا حقها ولوموسرا وجوزه الشافعی باعسار الزوج بتضررها بغيبته ولو قضی به حنفی لم ينفذ نعم لو امر شافعيا فقضی به نفذ (درمختار) قوله بانواعها الثلاثة وهی ماکول وملبوس ومسکن (ردالمحتار باب النفقة مطلب فی فسخ النکاح بالعجز عن النفقة اوبالغيبة ج۲ ص۹۰۳. ط. س. ج۳ ص ۵۹۰) ليکن که چيري ددی په ګناه کی دمبتلا کيدو خطره وی يا دنفقی څه صورت نه وي نوپه دی صورت کی دزوجي ترمتعنت لاندی دفسخ دنکاح څه صورت راوتلی سی، وروسته علماؤ دا صورت را ايستلی دی، وګورئ الحيلة الناجزة للتهانوی. ظفير

(۳) الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب النفقة مطلب فی فسخ النکاح بالعجز عن النفقة اوبالغيبة ج۲ ص ۹۰۳. ط. س. ج۳ ص ۵۹۰). ظفير

(۴) اما نکاح منکوحة الغير الخ فلم يقل احد بجوازه ولم ينعقد اصلا (ردالمحتار باب العدة ج۲ ص۸۳۵. ط. س. ج۳ ص ۵۱۲). ظفير

صورت کی حاکم نکاح فسخ کولی سی اوکه نه؟ په شرح الوقایه کی یی لیکلی دی چی په صورت مرقومه کی په حکم دحاکم نکاح فسخ کیدی سی.

جواب: په شامی کی چی معتبر کتاب دفقه دی په دی کی یی لیکلی دی چی: وقوله ولو قضی بالرد صح ای لوقضٰی به حاکم یراه الخ صح (۱)، اوپه درمختار کی دی، ولوقضٰی به حنفی لم ینفذ الخ (۲)، ددی مجموعه روایاتو څخه معلومه سوه چی دحاکم څخه مراد هغه حاکم دی چی دهغه مذهب دفسخ دنکاح په حالت مذکوره کی وی حنفی حاکم مراد نه دی حاصل دادی چی دحنفیه ؤ په نزد په دی صورت کی نکاح نسی کیدی، وفی الدر المختار ولا یفرق بینهما لعجزه عنها ولابعدم ایفائه لوغائبًا حقها الخ (۳). فقط

تنبیه: نن صبا په ضرورت شدیده سره په دې مسئله کی دمالکیه ؤ پرمذهب فتوٰی ورکړیده چی دهغه تفصیل په الحیلة الناجزه کی مذکوره دی هغه وګورئ. (مرتب)

کم خاوند چی دوطی په ځای لواطت وکړی نو دښځی نکاح فسخ کیدی سی اوکه نه؟ سوال: (۹۴۷) یوسړی دخپلی ښځی سره په ځای دوطی لواطت کوی اوددی څخه نه منع کیږی نو په داسی صورت کی ددی انجلی نکاح فسخ کیدی سی اوکه نه؟

جواب: په دی صورت خاوند ډیر سخت اوګنهګار اوفاسق دی اوپه حدیث پاك کی پر داسی سړی باندی لعنت وارد سویدی، لیکن ددی وجه حاکم په دوی کی تفریق نه سی کولی البته خاوندته به تنبیه ورکړی چی ددی څخه توبه وکاږی اوکه نه نودی دی مجبوره سی چی طلاق ورکړی اویاخلع وکړی اوښځی ته په دی حالت مذکوره کی خاوندته قریب تلل نه دی په کار بلکی یادی خاوند توبه وکاږی اوددی فعل څخه دی منع سی اویادی طلاق ورکړی اویا دی خلع وکړی (فقهاؤ داسی خاوند ته چی پر وطی باندی قادر نه وی او دلواطت عادي وی نو دعنین په حکم کی یی حساب کړیدی اوکم صورت چی دعنین څخه دغاړي دخلاصون دی نو دده څخه هم کیدی سی. (ددی دپاره وګوری کتاب الفقه علی المذاهب الاربعة. ظفیر)

خاوند چی ترشلو کالو پوری قید سی نو ښځه نکاح فسخ کولی سی اوکه نه؟ سوال: (۹۴۸) زید ته په یوه مقدمه کی شل کاله قید وسو نو دده ښځه بغیر دطلاقو څخه دوهم عقد کولی سی اوکه نه؟

---

(۱) ردالمحتار باب العنین وغیره ج۲ ص ۹۲۲. ط. س. ج۳ ص۵۰۱). ظفیر

(۲) الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب النفقة مطلب فی فسخ النکاح بالعجز عن النفقة ج۲ ص ۹۰۳. ط. س. ج۳ ص ۵۹۰). ظفیر

(۳) ایضا. ظفیر

جواب: دخاوند په شل کاله قید یا زیات اوکم سره نکاح نه سی فسخ کیدی لهذا په دی صورت کی ترکمی پوری چی خاوند طلاق ورنه کړی اوددی عده تیره نه سی نو تردی وخته پوری دی ښځی ته ددوهم سړی سره نکاح کول جائز نه دی.

چی خاوند ددیرشو کلونو پوری قید سو اوښځه صبر نسی کولی نو نکاح فسخ کیدی سی؟

سوال: (۹۴۹) زید ته په څه جرم کی دیرش کاله قید ورکول سو چی دری کاله تیرسوه او اوه ویشت کاله باقی دی دده ښځه وایي چی زه دومره اوږده موده بلاخاونده صبر نه سم کولی اوزما نکاح فسخ کړی لکه چی مقدمه په عدالت کی دائره ده زید وایي چی زما دوه بچیان دی یوهلك پنځه کلن اوانجلی دری کلنه موجوددی ددی پرورش به څوك کوی نان اونفقه ښځی ته اوددی بچیانو ته به څوك ورکوی لهذا طلاق ورکول او جدا کول زه نه غواړم دزید دښځی پلار وایي چی دزید څوك حقیقی ورور نسته، لیری خپلوان دي، نه دزید سره څه سرای مملوك سته چی په هغه کی یوازي پاته سی، اودیو قریب دار په کورکی چی پاته کیدل اوساتل غواړی نو پرده اطمنان نسته اودبی عزتی گمان غالب دی په حالت موجوده کی حکم شرعی څه دی، چی جبراً نکاح فسخ کیدی سی اوکه نه؟

جواب: اصل مذهب داحنافو په دی صورت کی دادی چی نکاح فسخ کیدی نه سی اوبغیر دطلاق ورکولو دخاوند څخه دوهمه نکاح ددی ښځی صحیح نه ده، کمافی الدر المختار ولایفرق بینهما بعجزه عنها ولابعدم ایفائه لوغائبا حقها الخ (۱)، (درمختار) لیکن بعض نور علماء په داسی صورت کی فسخ دنکاح جائز وایي اوحنفی ته په وخت دضرورت کی په دی باندی عمل کول صحیح دی، اوښه هم داده چی دامذهب دتفریق اودفسخ دنکاح باندی عمل وسي اوپه دی سره دی فسخ وکړی، قال فی الدرالمختار وجوزه للشافعی باعسار الزوج وبتضررها بغیبته ولو قضی به حنفی لم ینفذ حکمه نعم لو امر شافعیا فقضٰی به نفذ اذا لم یرتش الآمر والمامور بحر درمختار (۲)، اوپه شامی کی دی چی: والحاصل أن عند الشافعي إذا أعسر الزوج بالنفقة فلها الفسخ وكذا إذا غاب وتعذر تحصيلها منه على ما اختاره كثيرون منهم لكن الأصح المعتمد عندهم أن لا فسخ ما دام موسرا الخ شامی (۳) ج۲ ص۶۵۶. وفیه بعد اسطر: قال في غرر الأذكار : ثم اعلم أن مشايخنا استحسنوا أن ينصب القاضي الحنفي نائبا ممن مذهبه التفريق بينهما إذا كان الزوج حاضرا وأبى عن الطلاق لأن رفع الحاجة الدائمة لا يتيسر

(۱) الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب النفقة ج۲ ص۹۰۳. ط. س. ج۳ ص ۵۹۰. ظفیر
(۲) ایضا ج۲ ص ۹۰۳ – ۹۰۴. ط. س. ج۳ ص ۵۹۰. ظفیر
(۳) ردالمحتار باب النفقة ج۲ ص ۹۰۳. ط. س. ج۳ ص ۵۹۰. ظفیر

بالاستدانة إذ الظاهر أنها لا تجد من يقرضها وغنى الزوج مآلا أمر متوهم فالتفريق ضروري إذا طلبته وإن كان غائبا لا يفرق لأن عجزه غير معلوم حال غيبته الخ ونقل في البحر اختلاف المشايخ وأن الصحيح كما في الذخيرة عدم النفاذ لظهور مجازفة الشهود الخ والحاصل أن التفريق بالعجز عن النفقة جائز عند الشافعي حال حضرة الزوج وكذا حال غيبته مطلقا أو ما لم تشهد بينة بإعساره الآن كما علمت مما نقلناه عن التحفة والحالة الأولى جعلها مشايخنا حكما مجتهدا فيه فينفذ فيه القضاء دون الثانية الخ الى ان قال: نعم يصح الثاني لمذهب أحمد كما ذكر في كتب مذهبه وعليه يحمل ما في فتاوى قارئ الهداية حيث سأل عمن غاب زوجها ولم يترک لها نفقة فأجاب: إذا أقامت بينة على ذلک وطلبت فسخ النكاح من قاض يراه ففسخ نفذ وهو قضاء على الغائب وفي نفاذ القضاء على الغائب روايتان عندنا فعلى القول بنفاذه يسوغ للحنفي أن يزوجها من الغير بعد العدة بعد العدة [1] الخ شامی ج۲ ص ٦٥٦، نو ښکاره سوه چی روایات په دی باره کی نهایت مختلف اوګډوډ دی لیکن دضرورت په موقع حنفی ته ګنجائش دی چی تفریق وکړی اودعدی څخه وروسته ددوهمی نکاح دجواز فتوٰی ورکړی. فقط

چی خاوند همیشه مریض وی نو دښځی نکاح فسخ کیدی سی اوکه نه؟ سوال: (۹۵۰) یوه ښځه دنکاح څخه وروسته دخاوند سره څه موده وه وروسته ددی څخه په خاوند کی ناسور وسو ددوه دری کالو څخه هغه زخم ښه کیږی اوپه یوه میاشت کی بیا تازه سی وینه اوزوی (نوونه) ورڅخه جاری کیږی، اوخاوند نامردنه دی لیکن دطاقت دکموالی په وجه همبستری نسی کولی او که کوی یې نو په ډیر تکلیف سره یې کوی، اوخاوند جامه ځای، نان نفقه، خوراك وغیره ټول ورکولو ته تیاردی، مګر ښځه په خپله خوشحالی سره دنکاح فسخ کول غواړی اودمهر عوض هم ددی په قبضه کی دی اوهغه دورکولو څخه انکار کوی، نو دښځی په خوشحالی سره نکاح فسخ کیدی سی اوکه نه؟

جواب: په درمختار کی دی، ويسقط حقها بمرة ويجب ديانة احيانًا الخ [2]، نو دیووار وطی څخه وروسته دښځی حق ساقطیږی په دی معنٰی سره چی هغه دفسخ دنکاح دعوٰی دخاوند دعنین کیدلو په وجه نه سی کولی نو چی په صورت مسئوله کی کله چی خاوند عنین نه دی اووطی سویدی ولو مرة نو ښځی ته حق نسته چی نکاح فسخ کړی لیکن که چیری خاوند وغواړی طلاق دی ورکړی اویا دی دښځی څخه مال واخلی په عوض دمهر

[1] ردالمحتار باب النفقة ج۲ ص۹۰۳ – ۹۰۴. ط. س. ج۳ ص ۵۹۰. ظفیر

[2] الدرالمختار على هامش ردالمحتار باب القسم ج۲ ص ....، ط. س. ج۳ ص ۲۰۲. ظفیر

کی دی خلع وکړی (علماؤ دښځی دوجه دخشیت دوقوع في الزنا گنجائش پیدا کړیدی چی دتفصیل دپاره وگوری الحلیة الناجزة اوکتاب الفسخ والتفریق. ظفیر)

دمتعنت ښځه دانګریزی عدالت په ذریعه فسخ کولی سی اوکه نه؟ سوال: (۹۵۱) دمسماة ساحره بالغی خاوند دی ته نان او نفقه نه ورکوی اونه طلاق ورکوی او نه یی په کور کی ساتی په داسی حالت کی ښځه مذکوره دحاکم انګریزی مجازی څخه خلع یافسخ دنکاح کولی سی اوکه نه؟

جواب: بغیر دطلاقو ورکولو دخاوند څخه څه صورت دفسخ دنکاح اول اوددوهمی نکاح دجائز والی نسته، البته که چیري حاکم یاڅوك دوهم سړی په زبردستی سره دخاوند څخه طلاق واخلی یاخلع وکړی نو طلاق به واقع سی.

دبد چلنه خاوند ښځه څه وکړی؟ سوال: (۹۵۲) دیوی انجلی خاوند بد چلند دی اودی انجلی خپل کور ته نه رابولی اونه طلاق ورکوی نو دانجلی نکاح په بل ځای کیدی سی اوکه نه؟

جواب: په دی صورت کی چی ترکمه پوری چی ددی انجلی خاوند طلاق ورنه کړی اوعده تیره نسی نو تردی وخته پوری ددی انجلی بل ځای نکاح کول شرعًا صحیح نه دی (دار القضاء اوشرعی جرگی ددی ډول مصائبو څخه ښځه خلاصولی سی، (۱) ظفیر). فقط

دمجذوم بی بی فسخ کولی سی اوکه نه؟ سوال: (۹۵۳) زید ته دجذام مرض سویدی دده ښځه هنده دده څخه سخته کرکه کوی اودزید کور ته تلل نه غواړی اوانکار کوی نو شرعا په زید اوپه هنده کی جداوالی کیدی سی اوکه نه؟

جواب: په کتابونو دفقه کی دی چی دامام ابو حنیفه ﷺ په مذهب کی که چیري خاوند ته جذام یابل کم مرض لگیدلی وی نو دده ښځه دده دنکاح څخه نسی جلا کیدی اوښځی ته اختیار دنکاح دفسخ کولو نسته، نو په داسی حالت کی چی ښځه هلته تلل نه غواړی نو ددی خاوند ته دی دا وویل سی چی هغه طلاق ورکړی نو وروسته دطلاق اودعدی تیریدلو څخه دده ښځه دوهمه نکاح کولی سی، بغیر دطلاقو څخه دجدایی څه صورت نسته، قال فی الدرالمختار ولا یتخیر احد الزوجین بعیب فی الاخر ولو فاحشا کجنون وجذام الخ (۲) (لیکن امام محمد ﷬ اجازه ورکړیده (۳) اوپردی یی فتوٰی ورکړیده (۴)، ظفیر). فقط

---

(۱) وگوری الحیلة الناجزة للتهانوی اوکتاب الفسخ والتفریق للرحمانی. ظفیر

(۲) الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب العنین وغیره ج۲ ص ۸۲۲. ج ۳ ص ۵۰۱. ظفیر

(۳) وخالف الائمة الثلاثة فی الخمسة مطلقا ومحمد فی الثلاثة الاول لو بالزوج کما یفهم من البحر وغیره (رد =

دښځی کابل ته په هجرت کولو سره نکاح نه فسخ کیږي: **سوال**: (۹۵۴) ښځه منکوحه چی اراده دهجرت په طرف دکابل لری مگر خاوند دهغه اجازه نه ورکوی، نوددی هجرت جائز دی اوکه نه؟ اوپه حالت دهجرت کی نکاح دهغې فسخ کیدي سی اوکه نه؟

جواب: هجرت دهغه ښځی روا دی اونکاح نه فسخ کیږی.

په نه پیژندگلوی دجذامی سره نکاح وسوه نو دفسخ دپاره څه وکړی؟ **سوال**: (۹۵۵) دیوی انجلی نابالغی نکاح دجذامی سړی سره چي په نه پیژندگلوي سره په دهوکه کی راغلل ددی مور اوپلار وکړه، اورخصت تراوسه پوری نه دی سوی وروسته دنکاح کیدلو څخه ددی سړی دمرضه څخه خبر سو، په داسی صورت کی نکاح جائز ده اوکه نه؟ که جائز ده نو دباقاعده جداوالی څه صورت دی؟

جواب: په درمختار کی دی چی، ولایتخیر احد الزوجین بعیب فی الاخر لوفاحشا کجنون وجذام وبرص الخ وفی الشامی قوله ولایتخیر الخ ای لیس لواحد من الزوجین خیار فسخ النکاح بعیب فی الاخر عند ابی حنیفة وابی یوسف الخ ([1])، نو معلومه سوه چی په دی صورت کی نکاح صحیح سوه اوموافق دقول دشیخینو چی صحیح دی ښځی ته اختیار دفسخ دنکاح نسته البته که چیري خاوند طلاق ورکړی نو جداوالی کیدی سی، نوکه چیري جداوالی کوی نو دخاوند څخه طلاق اخیستل په کاردی. (امام محمد رحمه الله په دي صورت کی په قول دفسخ قائل ددی دپاره وگوری کتاب الفسخ والتفریق للرحمانی، ظفیر). فقط

نان او نفقه چی کله خاوند نه ورکوی نوښځه څه وکړی؟ **سوال**: (۹۵۶) یو سړی خپلی ښځی ته نان او نفقه نه ورکوی نو ښځه دوهمه نکاح کولی سی اوکه نه؟

جواب: ترڅو پوری چی خاوند طلاق ورنه کړی نو ښځه دده دنکاح څخه نه سی وتلی او دوهمه نکاح به صحیح نه وی نو چی په هره طریقه وی نو دخاوند څخه دی طلاق واخلی (او یا دي په دار القضاء کی مقدمه دائره کړی اونکاح دی فسخ کړی. ظفیر).

دچا خاوند ته چی دقید سزا وسوه نو هغه به څه کوی؟ **سوال**: (۹۵۷) زید ته په خُمار کولو سره پنځه کاله قید وسو نو دده دښځی دپاره دنفقی څه صورت نسته نوهغه دوهمه نکاح کولی سی اوکه نه؟

جواب: په دی صورت کی چی هرڅنگه وی دزید څخه دی طلاق واخلی اوکه نه نو بیا دی

= المحتار باب العنین وغیره ص ۸۲۲. ط. س. ج۳ ص ۵۰۱). ظفیر

([4]) تفصیل دپاره وگورئ: الحیلة الناجزة للتهانوی اوکتاب الفسخ والتفریق للرحمانی. ظفیر

([1]) ردالمحتار باب العنین وغیره ج۲ ص ۸۲۲. ط. س. ج۳ ص۵۰۱. ظفیر

اسلامی ریاست ته ولاړسی اوښځه دی دقاضی سره دجداوالی درخواست ورکړی قاضی که شافعی وی اوکه مالکی المذهب ددې قاضی په ذریعه تفریق کولی سی، ځکه چی دامام ابو حنیفه ﷺ په نزد دعدم ادائیگی دنفقه په صورت کی تفریق نسته، لیکن په کتبو دفقه کی داتصریح ده چی که چیري حنفی قاضی شافعی قاضی ته حکم وکی نو ددی قضاء به دښځی په حق کی نافذه سی، نعم لوامر شافعیا نفذ قضائه الخ، درمختار (۱). فقط

خاوند چی کله په سوزاک اواتشک کی اخته وي نو ښځه نکاح فسخ کولی سی اوکه نه؟

سوال: (۹۵۸) دزید اودهندی واده ددواړو دنابالغی په حالت کی سوی وو، بیا وروسته دبلوغ څخه هنده عبادت گذاره اوپابنده دروژی اودلمانځه سوه اوزید شرابی اوزنا کار اوسخت لوپر جوړسو نو په وجه دلوپروالی یوه پیسه یی نه گټله، اوپه اتشگی اوپه سوزاك مرض کی اخته دی، اوزید نه طلاق ورکوی اونه خلع کوی نو داخبره خو په اهل علم باندی ښکاره ده چی علی مافی عامة کتب الفقه زموږ دامام محمد ﷺ په نزد دخاوند لیونتوب، ابرص والی، جذام، جنون، طبق په شان دمقطوع الذکر فرمایلی دی وبه ناخذ، نوپه درو عیوبو کی په یوعیب کی دښځی دپاره ددې په اختیارولو باندی فتویٰ سویده اوپه درمختار کی دی، ولوقضی بالرد صح یعنی که چیري په پنځو عیبونو کی په څه وجه سره مالکی یاشافعی یاحنبلی قاضی نکاح فسخ کړی نو دده حکم به صحیح وی نو که چیري هنده دسخت ناچاری او دمجبوری په حالت کی زوج مفقود دمسئلی په شان دعالم مالکی څخه اوکه چیري داحنافو دعلماؤ څخه ماسوا دبل مذهب والا عالم نه وی نو که هلته دیوحنفی عالم په ذریعه خپله نکاح فسخ کړی نو جائزده اوکه نه؟

جواب: اقول وبالله التوفیق علامه شامی اول دفتح القدیر څخه دانقل کړیدی، وقدتکفل فی الفتح برد ما استدل به الائمة الثلاثة ومحمد بما لامزید علیه، چی په هغه سره ضعیف والی دقول دامام محمد ﷺ ثابت سو، اوپر عبارت ددرمختار چی، ولوقضی بالرد صح، باندی یې دالیکلی دی چی (ای لو قضی به حاکم یراه) نو معلومه سوه چی مراد حاکم شافعی یامالکی یاحنبلی دی، حنفی حاکم اوقاضی ته حکم دفسخ کولو صحیح نه دی نوپه هغه ځای کی چی عالم حنفی چی هغه قاضی هم نه دی هلته خو بیخي حکم دفسخ نسته. (په موجوده حالاتوکی علماؤ دجماعة المسلمین، شرعی جرگي اوددار

(۱) الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب النفقة ج۲ ص ۳۰۹. ط. س. ج۳ ص ۵۹۰. ظفیر

القضاء په ذریعه دفسخ پرصورت باندی فتوی ورکړیده په دی سلسله کی دحضرت تهانوی کتاب الحیلة الناجزه، اودمولانا عبد الصمد رحمانی کتاب الفسخ والتفریق وګوری. ظفیر. فقط

تر لسو کالو پوری چی دهغه خاوند خبر نه دی اخیستی نو دده ښځه به څه وکړی؟ سوال: (۹۵۹) یوسړی دلسو کالو څخه دخپلی منکوحی خبر نه دی اخیستی او لیری تللی دی اونفقه یی ورنه کړه په دی صورت کی دطلاق دنه ورکولو په صورت کي ددوهمی نکاح څه صورت سته دښځی دپاره اوکه نه؟

جواب: په دی صورت کی دښځی دخلاصون دپاره صورت دادی چی ددی دخاوند څخه دی طلاق واخلی وروسته دطلاقو اودعدی تیرولو څخه ښځه دوهمه نکاح کولی سی بغیر ددی څخه څه صورت دجدایی نسی کیدی (داخاوند تنګوونکی دی، اودخلاصی صورت یی دادی چی په شرعی جرګه کی یاچیري چی قاضی دشریعت دی نو هلته دی درخواست ورکړی اوخلاصون دی حاصل کړی دتفصیل دپاره وګوری الحیلة الناجزة للتهانوی اویا کتاب الفسخ والتفریق از مولانا رحمانی. ظفیر). فقط

نان او نفقه چی خاوند نه ورکوی نو ښځه دوهمه نکاح کولی سی اوکه نه؟ سوال: (۹۶۰) یو سړی دخپلی ښځی قطعا خبرګیری دنان نفقی اودجامی وغیره نه کوی اونه حقوق دزوجیت اداء کوی تردی پوری چی دخطونو جواب هم نه ورکوی ښځی یی دپاره دخرچی غوښتلو ډیر جوابونه ولیږل اودنورو اشیآؤ دغوښتلو دا یی هم ولیږل خو دیته یی مطلق توجه نسته نوپه داسی حالت کی ښځی ته دوهمه نکاح کول حلال دی اوکه نه؟

جواب: په درمختار کی دی چی ولایفرق بینهما بعجزه عنها الخ ولابعدم ایفائه حقها الخ الی ان قال ولو قضی به حنفی لم ینفذ الخ نعم لو امر شافعیا فقضی به نفذ الخ وفی رد المحتار نائبا ممن مذهبه التفریق بینهما اذا کان الزوج حاضرا اوابی عن الطلاق (۱) الخ ج۲ ص۷۵۹ شامی، نو ددی روایاتو څخه واضحه سوه چی که داحنافو مذهب په دی صورت کی دتفریق نه دی البته دبل امام په نزد چی تفریق وی نو په دی صورت کی صحیح دی نو ددی مذهب حاکم یاقاضی تفریق کولی سی، که چیري خاوند دطلاق ورکولو څخه انکار وکړی اوداحنافو مذهب دادی چی په هره طریقه وی خاوند ته دی دا ووایي چی دی ښځی ته دی طلاق ورکړی یا ددی خبر ګیری دنان اودنفقی کوه، اوکه نه وي نو قاضی حنفی نه بلکی ددوهم مذهب والا قاضـــی چی دهغه مذهب دتفریق دی خپل

(۱) ردالمحتار باب النفقة مطلب فی فسخ النکاح بالعجز عن النفقة اوبالغیبة ج۲ ص۹۰۳. ط.س. ج۳ ص۵۹۰.

نائب دی جوړ کړی هغه دي دتفریق حکم وکړی (۱). فقط

دخاوند دزیاتي په صورت کي ښځه دفسخ دنکاح دپاره څه وکړي؟ سوال: (۹۲۱) دهندې سره ددی خاوند زید اونور قریبان دخاوند په بد سلوکی سره مخ کیږی او وخت په وخت وهل اوټکول کوی، اوزید او دده خپلوان یعنی مور اوپلار هنده دخپل ځای څخه جبراً په بی عزتی سره بی پردی کړه او ویې ایستله نو آیا هندی ته په ذریعه دعدالت دنکاح دفسخ کولو اختیار سته اوکه نه؟ اوپه صورت ددعوه کی اعاده دحقوقو دښځی او دخاوند دهندی دعذر مذکور په وجه مدعی ته دتللو څخه انکار کولی سی؟

جواب: دنکاح دفسخ کولو اختیار ښځی ته نسته، خو په ذریعه دعدالت وغیره خاوند په دی مجبوریدی سي چی یاخو دا په ښه ډول سره وساتی اوحقوق یی ادا کړی اویا طلاق ورکړی، غرض داچی بغیر دطلاق ورکولو دخاوند څخه په دی صورت کی څه تفرق نسی کیدلی اوکه چیري دخاوند دطرفه څخه دا دعوه وی چی دهندی لخوا څخه ترکمه وخته پوری دده کور اباد وی نو دخاوند دطرفه څخه ددی اطمینان نه وی چی هغه په آئنده کي هندی ته دضرر رسولو او بې عزتي کولو څخه ډده وکړي، نوپه دی صورت کی دخاوند پرذمه واجب ده چي هندې ته دوالدینو په کورکی په پاته کیدلو سره نفقه ورکړی، ځکه چی په دی صورت کی هنده پخپله دخاوند دکور څخه نافرمانه سوی او وتلې نه ده بلکه هغه په بی عزتی سره جبراً ایستل سویده په درمختار کی دی: دکمو ښځو نفقه چی ساقطیږی ددوی په بیان کی یی ذکر کړیدی چی: وخارجة من بیته بغیر حق وهی الناشزة حتی تعود ولو بعد سفره خلافا للشافعی والقول لها فی عدم النشوز بینهما الخ (۲)، نو واضحه سوه چی په صورت مذکوره کی هنده پخپله دخاوند دکور څخه نافرمانه سوی نه ده وتل سوی بلکی هغه ایستل سویده، نوڅه وجه دسقوط دنفقی نسته.

ښځه وايي چی زما خاوند نرښځی دی ددی دبل سره نکاح کول څنګه دی؟ سوال: (۹۲۲) دیوسړی نکاح دیوی ښځی سره په حالت دنابالغی کی سوی وه وروسته دبلوغ څخه ښځی دعوی وکړه چی سړی نرښځی دی، نومعلومه سوه چی دسړی اندام مخصوصه دوه نیم انچه به وی نودا ښځه ددوهم سړی سره نکاح کولی سي اوکه نه دطلاقو ضرورت به وی؟

جواب: په درمختار کی دی چی: ولوقصیراً لایمکنه ادخاله داخل الفرج فلیس لها الفرقة بحر وفیه نظر الخ وفی الشامی قوله وفیه نظر اشار الی ما قاله الشرنبلالی فی شرحه

---

(۱) ددی دپاره وګوری الحیلة الناجزه للتهانوی بحث زوجۀ متعنت. ظفیر

(۲) الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب النفقة ج۲ ص۸۹۰. ط. س. ج۳ ص۵۷۲. ظفیر

علی الوهبانیة الخ قتل لکن لم ینفرد به صاحب القنیة بل نقله فی الفتح والبحر عن المحیط الخ (۱)، حاصل دادی چی موافق دسوال دصورت نکاح منعقده سوه اوددی وجه څخه په دوی کی تفریق نسی کیدی، البته که چیري خاوند طلاق ورکړي یادی دده څخه په څه طریقه سره طلاق واخلی نو بیا دوهمه نکاح ددغه ښځی دبل سړی سره جائز ده.

شافعی المذهب ښځه دنان او دنفقی دنه ورکولو په وجه سره تفریق کولی سی: سوال: (۹۲۳) زید اوهنده شافعی دی او دعقد ۹ نهه کاله وسوه چی زید نان اونفقه ورنه کړه نو آیا هنده دزید څخه په مذهب دامام شافعی خلاص والی حاصلولی سی اوکه نه؟

جواب: په دی صورت کی هنده موافق دمذهب دامام شافعی تفریق کولی سی کما فی الهدایه وقال الشافعی یفرق لانه عجز عن الامساك بالمعروف فینوب القاضی منابه فی التفریق الخ (۲). فقط

دنان او نفقی دنه رسیدلو په وجه تفریق: سوال: (۹۲۴) خلاصه دسوال داده چی دهندی واده دزید سره وسو چی دهغه اتلس کاله موده وسوه، زید په دغه موده کی هندی ته نه یوه پیسه دنان اونفقی ورکړه اونه یی خپل ځان ته راوبلله اونه یی حقوق دزوجیت اداکړه اونه هغه هندی ته طلاق ورکوی نو دیومذهب په وجه سره داسی ښځه بغیر دطلاقو څخه دخاوند دوهم عقد کولی سی اوکه نه؟

جواب: په داسی حالت کی په کتابونو دفقه کی یی لیکلی دی چی دشافعی المذهب قاضی څخه دی تفریق وکړی په درمختار کی دی: نعم لو امر شافعیا فقضی به نفذ الخ (۳). فقط

دنان او دنفقی دنه ورکولو په صورت کی تفریق کولی سی اوکه نه؟ سوال: (۹۲۵) دهندی نکاح دخالد سره سویده ډیره موده وسوه، لیکن تردی وخته پوری خالد هندی ته نفقه نه ورکوی اوتکلیف رسانی یی وکړه، نوڅه موده وسوه چی خالد په سرکاری خزانه کی غلا وکړه او ولاړی پټ سو نو اوس هنده ددوهم سړی سره نکاح کولی سی اوکه نه؟

جواب: ولا یفرق بینهما بعجزه بانواعها الثلاثة ولا بعدم ایفائه لوغائبا حقها ولو موسراً وجوزه الشافعی باعسار الزوج وبتضررها بغیبة ولو قضی به حنفی لم ینفذ الخ (۴)، ددی روایت څخه معلومه سوه چی داحنافو په مذهب کی دخاوند دنفقی په نه ورکولو سره او زوجیت دحقوقو په نه اداء سره اودخاوند په غائیبدلو سره دښځی اودخاوند په مینځ کی

(۱) وګوری ردالمحتار باب العنین وغیره ج۲ ص۸۱۲. ط. س. ج۳ ص۴۹۴. ظفیر
(۲) وګوری هدایه باب النفقة ج۲ ص۴۱۲. ظفیر
(۳) الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب النفقة ج۲ ص۹۰۳. ظفیر
(۴) الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب النفقة ج۲ ص۹۰۳. ط.س. ج۳ ص۵۹۰. ظفیر

تفریق نسی کیدی اوښځی ته دوهمه نکاح کول جائزنه دی اوامام شافعی دخاوند دغریب کیدلو په وجه سره اودخاوند دغائبیدلو په صورت کی تفریق جائز فرمایلی دی نو له دې امله ته دقاضی یا حاکم شافعي المذهب په وسیله باندي له تفریق کولو څخه وروسته نکاح کولی سي، (۱) او قاضي یا حاکم حنفی المذهب تفریق نه سی کولی. فقط

خاوند که ړوند سی نوښځه نه سی جدا کیدي: **سوال**: (۹۲۶) دیوسړی په حالت دنابالغی کی نکاح وسوه بیا هلك ړوند سو مخکی بنا اوکتونکی اونظر یی روغ وو، نو اوس دده ناوی غواړی چی خاوند پریږدم، څه حکم دی؟

جواب: په درمختار کی دی چی: ولا یتخیر احد الزوجین بعیب فی الاخر ولوفاحشًا کجنون وجذام الخ، اوپه شامی کی دی چی، قوله ولایتخیر الخ ای لیس لواحد من الزوجین خیار فسخ النکاح بعیب فی الآخر عند ابی حنیفة الخ بناءً (۲)، نو په صورت مسئوله کی ناوی ته دخاوند دړوند کیدلو په وجه سره دا اختیار نسته چی هغه دانکاح فسخ کړی اودا ړوند خاوند پریږدی اودوهم خاوند وکړی.

دنامرد ښځه څه وکړی؟ سوال: (۹۲۷) دیوی باکره انجلی نکاح وسوه اوځو واره دا انجلی خاوند ته ولاړه راغله او اوس هغه بالغه ده او وایي چی داسړی دښځی دکار نه دی یعنی نامرد دی لکه څنګه چی دښځی اودخاوند په مینځ کی همبستری کیږی نو دده څخه کله هم ونه سوه اوهغه سړی طلاق هم نه ورکوی نوچی څه دشریعت حکم وی هغه تحریر کړی اودلته څه قاضی هم نسته؟

جواب: دخاوند په نامرد والی سره نکاح نه باطلیږی بغیر دخاوند دطلاق ورکولو څخه څه صورت دجدایی په دی وخت کی نسته (۳).

دنامرد دښځی نان او نفقه اومهر: **سوال**: (۹۲۸) یو هلك اوانجلی نابالغ دی اودعقد یی شپږ کاله وسوه انجلی اوس بالغه ده خو دهلك متعلق مشهوره ده چی هغه نامرد او معذور دی، په دی موده کی انجلی دخپلی خسرګنۍ کره هم وه، نوکه چیري سړی طلاق ورکړی نو مهر به اداء کول ضروري وی اوکه نه؟ اودشپږو کالو نفقه به ادا کوی اوکه نه؟

جواب: بغیر دطلاقو څخه ښځه دده دنکاح څخه جلا کیدی نه سی ، او که خاوند دخلوت

---

(۱) نعم لو امر شافعیا فقضی به نفذ (ایضا). ط. س. ج۳ ص ۵۹۰. ظفیر

(۲) وګوری ردالمحتار باب العنین وغیره ج۲ ص ۸۲. ط. س. ج۳ ص ۵۰۱. ظفیر

(۳) په ذریعه دمسلمان حاکم یاپه بهار کی په ذریعه دقاضی دامارت شرعیه اوپه نورو ځایونوکی دمسلمان حاکم نه کیدلو په صورت کی په ذریعه دمسلمانانو دجرګی دنامرد خاوند څخه نجات حاصلیدی سی دتفصیل دپاره وګوری الحیلة الناجزة للتهانوی. ظفیر

کیدلو څخه وروسته طلاق ورکړی نو مهر به پوره لازم سي، والخلوة الخ کالوطی فیما یحیی ولوکان الزوج مجبوبا اوعنینا اوخصیا (۱) الخ درمختار، اودتیری زمانی نفقه به ساقطه سی، والنفقة لا تصیر دینا الا بالقضاء اوالرضاء الخ درمختار (۲). فقط

جواب: (بیاهم دمخکنی سوال نمبر ۹۲۸ تکراراً) ستاسو دمسئلی جواب هم هغه دی چی مخکی ولیکل سو داقید دنکاح داسی دروند قید دی چی دخاوند په قبضه کی ددی خلاصوالی اینبوولی سویدی نو دخاوند څخه په زور سره وی اوکه په خوشحالی سره وی طلاق دي واخلی وروسته دطلاق اودعدی دتیریدلو څخه چی دری حیضه دی دوهمه نکاح به یی جائزه سی اوطلاق که چیري دخاوند څخه په زور سره هم واخلی نو واقع کیږی نو خاوند دی مجبوره کړی چی څنګه هم کیدی سی طلاق دي ورکړی (۳). فقط

دمعذور او دګډوډو حواسو والا ښځه څه وکړی؟ سوال: (۹۲۹) زما دخور واده په کم عمری کی سوی وو، ددی خاوند ګډوډ حواسو والا دی اودواړی پښی یی بیکاره سوی دی، او اوس انجلی بالغه ده اوخاوند ددی قابل نه دی اونه خاوند دخپل ګډوډ حواسی په وجه طلاق ورکولی سی، دانجلی دوهمه نکاح جائز ده اوکه نه؟

جواب: په کتابونو دفقه کی لیکلی دی چی خاوند که چیري دګډووډو حواسو والاوو او معذور اومریض وو نو دده ښځه دده دنکاح څخه نسی جلا کیدی لیکن که چیري دده بد حواسی حد دلیونتوب ته نه وه رسیدلی، صرف سفیه یعنی کم عقل وو نودده طلاق واقع کیږی اوکه چیري مجنون یامعتوه یعنی دیوانه وی نو بیا دده طلاق هم نه واقع کیږی په داسی حالت کی مجبوری ده، په درمختارکی دی: ویقع طلاق کل زوج بالغ عاقل ولو عبداً اومکرها الخ اوهازلا اوسفیها خفیف العقل اوسکران الخ ای لایقع طلاق المولٰی علی امرأة عبده والمجنون والصبی والمعتوه من العته وهو اختلال فی العقل الخ (۴).

دنامرد ښځه دیو کال مهلت څخه وروسته تفریق کولی سی: **سوال**: (۹۷۰) یوسړی دخپلی نابالغی لور نکاح دیوه هلك سره کړی وه اوڅلور سوه روپی یی واخیستی اوهلك نامرد ووتی نو ښځی دده دنامردی اعلان وکی، دعلاج مهلت ورکول سو خو دعلاج سره څه فائده ونه سوه نو ښځه مجبوره سوه دوهمه نکاح کول غواړی نودا نکاح چی کمی روپی

---

(۱) الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب المهر ج۲ ص۴۲۷ – ۴۲۸. ط. س. ج۳ ص ۱۱۴. ظفیر
(۲) الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب النفقة ج۲ ص ۹۰۲. ط. س. ج۳ ص ۵۹۴. ظفیر
(۳) که چیري په هیڅ ډول سره طلاق ورنه کړی نو دقاضی یامسلمان حاکم، یا مسلماني جرګی مخ ته دی مقدمه پیش کړی نودشرعی قوانینومطابق آزادی حاصلولی سی دتفصیل دپاره وګوریئ: الحیلة الناجزة للتهانوی. ظفیر
(۴) الدرالمختار علی هامش ردالمحتار کتاب الطلاق ج۲ ص۵۷۹. ط. س. ج۳ ص ۲۳۵. ظفیر

یې اخیستی دی وسوه اوکه نه؟ که چیرې نکاح صحیح سوه نو دنامرد ښځه بغیر دطلاقه جدا کیدی سی، اودوهمه نکاح کولی سی اوکه نه؟

جواب: په دی صورت کی نکاح صحیح سوه مګر چی کمی روپی یی اخیستی دی که چیرې په طریقه دمهر معجل وی نو دښځی مملوك دی اوکه چیرې پلار دخپل ځان دپاره اخیستی دی نو روپی اخیستل دلور نکاح کول ناجائز اورشوت دی بیرته ورکول یې په کار دی (۱) بغیر دطلاقو دخاوند څه صورت دجدایی په دې زمانه کی نسته ځکه چی دقاضی شرعی څخه ماسوا نه څوك مهلت ورکولی سی اونه تفریق کولی سی اوقاضی شرعی په دی زمانه کی نسته (۲) نو بغیر دخاوند دطلاقو اوبغیر دعدی تیریدلو څخه ښځه دوهمه نکاح نسی کولی په درمختار کی دی: *ولا عبرة بتاجيل غير قاضي البلدة الخ* (۳)،

کم خاوند چی تر ډیری مودې پورې دښځی خبر ګیري نه کوي هغه ښځه څه وکړي؟ سوال:

(۹۷۱) یوسړی ددولسو کالو څخه خپله منکوحه پریښوولو اوافریقی ته ولاړی اوهیڅ قسم خبرګیری یی نه کوله اونه ښځه خپل ځان ته رابولی اونه پخپله راځی نو په دی صورت کی ښځی ته اختیار ددوهمی نکاح کولو سته اوکه نه؟ اوښځه نکاح فسخ کولی سی اوکه نه؟

جواب: اقول وبالله التوفیق مذهب داحنافو په دی باره کی دادی چی خاوند دعدم خبر ګیری په وجه سره اودنفقی دنه ورکولو په وجه سره اودنورو حقوقو دزوجیت دنه اداء کولو په وجه سره ښځی ته دااختیار نسته چی خپله نکاح فسخ کړی اودوهمه نکاح وکړی دنکاح فسخ کول اوطلاق ورکول ددواړو اختیار خاوند ته ورکول سوی دی نه ښځو ته، وفی الحدیث، الطلاق لمن اخذ الساق (۴)، داصحیح ده چی سړی ته داسی کول حرام دی چی نه خبر ګیری کوی اونه طلاق ورکوی، لقوله تعالٰی فامسکوهن بمعروف او سرحوهن بمعروف ولاتمسکوهن ضرار لتعتدوا (۵)، لیکن ددی آیت مطلب دانه دی چی که چیرې خاوند داسی وکړی نو ښځه دی خپله نکاح فسخ کړی اوطلاق دی واخلی البته

---

(۱) اخذ اهل المرأة شيئا عند التسليم فللزوج ان يسترده لانه رشوة (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب المهر ج۲ ص۵۰۳ ط. س. ج۳ ص۱۵۶). ظفیر

(۲) ددیوبند اودسهارنپور علماء دحالاتو څخه مجبوره سوه نو لاره یې پیدا کړیده ددی دتفصیل دپاره ملاحظه کړی، الحیلة الناجزة للتهانوی، اوپه بهار کی په ذریعه دامارت شرعیه اوپه نورو صوبوکی دمسلمان حاکم نه کیدلو په صورت کی په ذریعه دمسلمانانو دجرګی شرعی کار روایی په عمل کی راوستلی سی. ظفیر

(۳) الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب العنین وغیره ج۲ ص ۸۱۸. ط. س. ج۳ ص ۴۹۷. ظفیر

(۴) الدرالمختار علی هامش ردالمحتار کتاب الطلاق ج۲ ص ۵۸۵. ط. س. ج۳ ص ۲۴۲. ظفیر

(۵) سورة البقره رکوع : ۲۹. ظفیر

که چیري دداسی حاکم اوقاضی مخ ته دامعامله وړاندی کړی چی دهغه مذهب دتفریق وی نوهغه تفریق کولی سی په درمختار کی دی چی: ولایفرق بینهما بعجزه عنها بانواعها الثلاثة ولا بعدم ایفائه حقها لوغائبا الخ (۱)، وفی الشامی وعلیه یحمل وعلیه یحمل ما في فتاوی قارئ الهدایة حیث سأل عمن غاب زوجها ولم یترك لها نفقة فأجاب إذا أقامت بینة علی ذلك وطلبت فسخ النکاح من قاض یراه ففسخ نفذ وهو قضاء علی الغائب وفي نفاذ القضاء علی الغائب روایتان عندنا فعلی القول بنفاذه یسوغ للحنفي أن یزوجها من الغیر بعد العدة الخ (۲). فقط

دنامرد دښځی جداوالی په ذریعه دحکم: **سوال**: (۹۷۲) دنامرد سره چی په لاعلمی کی یی دکمی ښځی نکاح وکړه او وروسته دنکاح څخه په معلومولو باندی سړی په طلاق ورکولو باندی مجبوره سی اوهغه سړی په طلاق ورکولو باندی رضامند نه وی نو ددی ښځی نکاح ددوهم سړی سره جائز کیدی سی اوکه نه؟

جواب: نکاح وسوه، نو اول به خاوند ته وویل سی چی طلاق ورکړه، اوکه نه نوپه دی زمانه کی بیا دتفریق صورت دادی چی یوحَکَم مقرر کړی اودا دی دعوٰی وکړی چی زه ددی نامرد په نکاح کی پاته کیدل نه غواړم نو په دی باندی به خاوند ته یوکال مهلت دعلاج دپاره ورکول سی که هغه ښه نه سو اوقابل دجماع نه سو نو دښځی په وینا به هغه حَکَم ددواړو تفریق وکړی اونکاح به فسخ کړی وروسته دفسخ څخه ښځه به عده دطلاقو پوره کړی دوهمه نکاح کولی سی کما فی الدرالمختار ولو وجدته عنینا الخ اجل سنة الخ (۳)، اوپه شامی کی یی په باره کی دحکم دجواز جوړولو تأمّل هم کړیدی (۴) ښه داده چی په هر ډول وی دخاوند څخه دي طلاق واخلی. فقط

کله چی دنامرد خاوند هیڅکله وطی نه وی کړی نو دده دښځی حکم: **سوال**: (۹۷۳) دیوی ښځی خاوند نامرد دی اویووار یی هم دجماع څه نوبت نه دی راغلی اونه ښځی ته نان او نفقه ورکوی اونه طلاق ورکوی، نو په دی صورت کی په مذهب حنفی کی دنامرد خاوند دزوجیت اودده دجال څخه دخلاصیدو څه صورت دی؟

جواب: په دی صورت کی داحنافو دمذهب موافق دتفریق صورت دادی چی قاضی یا حاکم شرعی دښځی په طلب کولوخاوندته یوکال مهلت دعلاج دپاره ورکړی نوکه په دغه

(۱) ردالمحتار باب النفقة ج۲ ص ۹۰۳. ط. س. ج۳ ص ۵۹۰. ظفیر
(۲) ایضا ج۲ ص ۹۰۳ - ۹۰۴. ط. س. ج۳ ص ۵۹۰. ظفیر
(۳) الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب العنین وغیره ج۲ ص۸۱۸. ط. س. ج۳ ص ۴۹۲. ظفیر
(۴) ولا یعتبر تاجیل غیر الحاکم کائنا من کان فتح وظاهره ولو محکما تامل (ردالمحتار باب العنین وغیره ج۲ ص۸۱۸. ط. س. ج۳ ص۴۹۷). ظفیر

موده کی ده ته څه نفع ونه سوه نو دښځی په طلب به حاکم شرعی تفریق وکړی ([1]) اوس په دی وخت کی دا خو نه سی کیدی، لهذا ماسوا دخاوند دطلاقو بل کم صورت دجدایی نسته کذا فی کتب الفقه ([2]). فقط

دچا خاوند چی فضول خرچه وی اوحقوق دزوجیت نه ادا کوی نو ددی حکم: **سوال**: (۹۷۴) زید دخپلی ښځی هنده ټول کالی وغیره په فضول خرچی خرڅ کړل، زید شرابی، دهوکه باز خُمار بازدی اوخپلی ښځی ته دلس یوولس کالو څخه نان نفقه نه ورکوی اونه حقوق دزوجیت ادا کوی، نوپه دی صورت کی شرعًا دنکاح دفسخ کولو حکم سته اوکه نه؟

جواب: داحنافو په نزد بغیر دطلاقو ورکولو دخاوند څخه څه صورت دهندی دجدایی نسته اوبغیر دطلاقو دخاوندڅخه په دی صورت کی دښځی اودخاوندپه مینځ کی تفریق نه سی کیدی اونکاح نه سی فسخ کیدی، کمافی الدرالمختار لا یفرق بینهما بعجزه بانواعها الثلاثة ولا بعدم ایفائه حقها الخ ([3]). فقط

کم خاوند چی داحکامو شرعیه وو مخالف وی نو دهغه څخه دنجات (خلاصون) صورت: **سوال**: (۹۷۵) دهندی خاوند زید دشپږو کالو څخه لوفر دی اودیوی بازاری ښځی سره پروت دی داحکامو شرعیه وو اودپردی سخت مخالف دی نه دهندی خواته راځی اونه دیته خرچه ورکوی، اودطلاق ورکولو څخه انکار کوی، هنده دده کورته تلل نه غواړی او دوهمه نکاح کول غواړی نو په دی صورت کی دهندی دوهمه نکاح صحیح ده اوکه نه؟

جواب: هرکم چی وی نو دخاوند څخه دی طلاق واخلی ځکه چی په موجوده حالت کی دهندی ورلیږل هم مناسب نه دی اوبغیر دطلاقو اوبغیر دعدی تیریدلو هندی ته دوهمه نکاح کول هم شرعا صحیح نه دی ([4]).

په رضامندی کی دمسلمانانو سره دمقرر قاضی فیصله جائز ده: **سوال**: (۹۷۶) دلته په قومی عدالت کی یودرخواست تیر سوی دی چی په هغه کی دمدعیه بیان دی چی ددی خاوند

([1]) ولو وجدته عنینا الخ اجل سنة الخ فان وطی مرة فبها والا بانت بالتفریق من القاضی ان ابی طلاقها (الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب العنین وغیره ج۲ ص ۸۱۸. ط. س. ج۳ ص۴۹۲). ظفیر

([2]) چیري چي قاضي یا شرعي حاکم دحکومت دطرفه څخه نه وي، هلته دمسلمانانو شرعي جرګه ددوی قائم مقام او ځای ناستي جوړیدی سي او دهغې جرګې فیصله به بیا نافذه وي. وګورئ: الحیلة الناجزة، همدا ډول دار القضا هم تفریق کولای سي. وګورئ: کتاب الفسخ والتفریق. ظفیر

([3]) الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب النفقة ج۲ ص۹۰۳ ، حضرت تهانوی رحمه الله په الحلیة الناجزة کی دعلماؤ په اتفاق سره دداسی خاوندانو څخه دخلاصون صورت په ذریعه دشرعی جرګې یاقاضی لیکلی دی دغه ډول حضرت مولانا عبدالصمد رحمانی په کتاب الفسخ والتفریق کی دتفریق جواز ثابت کړیدی. ظفیر

([4]) داسی سړی تنګونکی دی اوپه ذریعه دقاضی یا په کوشش دجرګی سره نکاح فسخ کیدی سی ددی دپاره وګوری الحیلة الناجزة او کتاب الفسخ والتفریق. ظفیر

داتو کالو څخه داپرېښې ده اودنان نفقې مطلق فکر نه کوي، نه ددې خبرې اميددې چې په ويلو اوريدو سره راضي سي خپله ښځه دخپل ځان سره وساتي يا دې په جدايي کې ددې دخوراك او دکپړو ذمه وار سي، نو په دې صورت کې دعدالت دطرف څخه څه فيصله وکړې؟ مدعا عليه په طلاق ورکولو باندې تيار نه دی اومدعيه دموجوده طرزِ زندگی څخه په تنگ راغله په يوډول سره دبې تعلقی حاصلولو خواهشمنده ده، دمدعی متعلق دلته دمدعيه دراتلوڅخه ډيرې ورځې مخکې مدعاعليه دلمونځ کولو اودجومات ته دراتللو څخه يې انکار کوی اوپر لمونځ کوونکو يې لعنت کوی، په دې جرم کې دده سره جماعت قطع تعلق کړيدی.

جواب: دعبارت دتاتارخانيه وغيره څخه چې علامه شامی نقل کړيدی، دامعلوميږي چې په رضامندگی دمسلمانانو سره چې کم قاضی مقرر کيږي دی په فصل خصومات کې په حکم دقاضی شرعی کې دی ([1]) البته صاحب دفتح القدير په دې کې تحقيق کړيدی چې اول والی مسلمان مقرر کړی بيا هغه والی به قاضی مقرر کړی ([2]) په دې کې شك نسته چې دا دپوره اطمينان دنفس خبره ده کما قال صاحب النهر، ددې څخه وروسته دادی چې عند الحنفية قاضی حنفی په صورت مسئوله کې تفريق نه سی کولی ليکن دبعضو ائمه ؤ مذهب دتفريق دی لهذا مسئله مجتهد فيها سوه نو په داسې حالت کې که چيري قاضی مجتهد وی نو عند البعض دده حکم دخپل مذهب خلاف نافذ کيدلی سی ليکن اصح اوښه داده چې نه نافذ کيږي اوکه چيري قاضی مجتهد نه وی لکه څنگه چې اوس که چيري قاضی وی نو هغه به هم داسې وی نو دده حکم په خلاف دخپل مذهب به په هيڅ حال کې نه سی نافذ کيدی: کما فی الشامی فاما المقلد فانما ولاه ليحکم بمذهب ابی حنيفة فلا يملك المخالفة الخ ج۴ ص**۳۳۵**، کتاب القضاء، داحقر په خيال کې داده چې کله قاضی مجتهدنه دی نوپه مسائل مجتهد فيهاکی هم دده قضاء په خلاف دمذهب نافذه به نه وی. ([3]) فقط

<u>دظالم خاوند څخه دخلاصون صورت</u>: **سوال**: (۹۷۷) زيد خپلې ښځې ته نان نفقه نه ورکوی اونه طلاق ورکوی نو اوس هنده څه وکړی؟

([1]) و([2]) و([3]) ددې دپاره وگورئ: الحيلة الناجزة للتهانوي چې په هغه کې يې دبل مسلك دمجتهد دمسئلو مطابق علماؤ دهند دتفريق کولو اجازت ورکړيدی. ظفير

سوال: عند الحنفية دي زيد مجبوره سی چی يا هغې ته نفقه ورکړي اوکه نه نو طلاق دی ورکړي بغير دزيد دطلاقو څخه تفريق نه سی کيدی، کذا فی الدرالمختار (۱).

چی کم خاوند دښځی ځانی دښمن وی نو دده سره اوسيدل مناسب نه دی: سوال: (۹۷۸) زما خاوند زما څخه ديوې مودی څخه سخت ناراض اوروح غوښتونکی دی، دوې حملی يی پرماکړی دی يوه حمله دټوپك اودوهمه حمله دچاقو دپوزې راپريکولو نيت يی وکی، نو چونکی ماته دخپل ځان خطره ده، ددی وجه زه دده دنکاح څخه جلاکيدل غواړم؟

جواب: دداسی خاوندسره ليږل دښځی نه دی پکار ترهغه وخته پوری چی دا دهغه دطرفه څخه مطمئنه نه وی ليکن دده دنکاح څخه بغير دطلاقه جلاکيدی نسی، ليکن که چيري عدالت جبرًا دخاوند څخه طلاق واخلی بيابه طلاق واقع سی (۲). فقط

دديوث خاوند سره دښځی اوسيدل مناسب نه دی: سوال: (۹۷۹) يوه ښځه هنده په اسلام مشرفه سوه، اويو سړی نوی مسلمان ددی سره يې نکاح وکړه ليکن هغه ښځه په بدفعلی اوکسب کولو باندی مجبوره کوی، په داسی حالت کی ښځی ته څه کول په کاردی که چيري خاوند ضدًا طلاق نه ورکوی نوښځه دوهمه نکاح کولی سی اوکه نه؟ او دخاوند څخه جداوالی کيدی سی اوکه نه؟

جواب: کله چی هغه سړی داسی شرير النفس اوظالم اوبدکار دی چی په سوال کی مذکور دی اوسائله پرمعصيت مجبوره کوی نوپه حالت مذکوره کي دده سره نه دی اوسيدل په کار اوشريعت يې نه مجبوره کوی دداسی ظالم اوفاسق سره پر اوسيدلو باندي، البته بدون دده طلاق ورکولو نکاح ماتول اودبلی نکاح دجواز څه صورت نسته نو چی هر رکم وی په ذريعه دحاکمانو وغيره دي پر ده باندی زور واچوی اوجبر دي وکړی دده څخه دي طلاق واخلی نودطلاق اوعدی تيريدو څخه وروسته يې دوهمه نکاح صحيح ده (۳).

دچا خاوند چی بد اخلاقه وی نو دده سره ښځه نه ليږل درست دی: سوال: (۹۸۰) ديوی مسماة بيان دی چی زما خاوند ظالم دی اوجابردی اوهغه زماسره داکوی چی په يوه شپه کی دری څلور واره همبستری وکړه چی دهغه په وجه ماته نهايت درجه تکليف وی اوپه

---

(۱) ولا يفرق بينهما بعجزه عنها بانواعها الثلاثة ولابعدم ايفائه حقها ولو موسرا وجوزه الشافعی باعسار الزوج وبتضررها بغيبة ولوقضی به حنفی لم ينفذ نعم لوامر شافعيا فقضی به نفذ (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب النفقة ج۲ ص۹۰۳. ط. س. ج۳ ص۵۹۰) اوس زموږ علماؤ دجواز فتوٰی ورکړيده ددی دپاره وګوری الحيلة الناجزة للتهانوی. ظفير

(۲) دار القضاء اوس دهندوستان په ډيرو ښارونو کی قائمه سويده ددی په ذريعه تفريق کيدی سی، وګوری الحيلة الناجزه اوکتاب الفسخ والتفريق. ظفير

(۳) ايضا. ظفير

ایام حیض کی هم نه منع کیږی، اوپه انکار کولو باندی چاړه را وباسی اووهی می اوزما سره لواطت هم کوی، څو واره هغه خپل ذکر زما په خوله کی داخل کړی اوانزال یی وکی په داسی حالت کی که چیري دښځی مذکوره مور اوپلار ښځه دخاوند سره نه لیږی نو ګنهګار خو به نه وی؟

جواب: په داسی حالت کی دانجلی مور اوپلار دی خپله لور دخاوند کور ته نه لیږی اوپه نه لیږلو سره هغوی ګنهګار نه دی بلکی څنګه چی کیدی سی نو دخاوند څخه دی طلاق واخلی.

دظالم خاوند څخه دخلاصون صورت وښیاست: **سوال**: (۹۸۱) دلته دامرض عام خپور سوی دی چی خاوند دنکاح څخه څه موده وروسته بی له وجه شرعی څخه خپله ښځه وهی مور او پلار ته یی رسوی او خبرګیری یی نه کوی انجلی چی ځوانه سی نو خامخا بل ځای تعلق پیدا کوی چی ډیره دشرم اودبی حیایی خبره ده تاسی برای مهربانی په دی باره کی څه لاره دشریعت وښایاست، تردی چی کله انجلی والاته نوبت ورسیږی نوهغوی به دوهم عقد دانجلی په بل ځای کی وکړی اوهغه به حلاله طیبه سی؟

جواب: په شریعت غراء کی یې دخلاصون صورت په داسی حالت کی دا ښوولی دی چی که چیري خاوند په څه ډول خبر ګیری دخپلی ښځی نه کوی اونفقه نه ورکوی او ددی حقوق دزوجیت نه اداء کوی نو خاوند ته به وویل سی چی هغه خپلی منکوحی ته طلاق ورکړی بلکی دی به مجبوره سی چی یاهغه حسن معاشرت اختیار کړی کنې نو طلاق دی ورکړی، کما قال الله تعالی فامساك بمعروف اوتسریح باحسان الایه ([1])، چی خاوند ته لازم دی چی یایی په ښه شان سره وساتی اویایی په ښه طریقه سره پریږدی اوکه چیري خاوند غائب سی چی دده هیڅ درك نه لګیږی اوهغه بالکل مفقود الخبر سي نودده ښځی لره یی داصورت دخلاصون ایښی دی چی څلور کاله به انتظار کوی اوبیابه عده دوفات ۱۰ لس ورځی اوڅلور میاشتی پوره کړی نوبیا به دوهمه نکاح وکړی دا دامام مالك رحمه الله مذهب دی اواحنافو هم په دی باندی فتوٰی ورکړیده کذافی الشامی ([2]).

چی جذام والا خپل مرض پټ کړی اونکاح وکړی بیا وروسته ښکاره سی نونکاح فسخ کیدی سی: **سوال**: (۹۸۲) زید په مرض قبیحه متوارث دجذام اودبرص اسود وغیره امراضو کی اخته وو، اوده په یو قسم قبیح اومکر سره په نیت ددوکه ورکولو باندی پټ وساتی

([1]) سورة البقره رکوع: ۲۹. ظفیر

([2]) قوله خلافا لمالك فان عنده تعتد زوجته المفقود عدة الوفاة بعدمضی اربع سنین الخ قال فی البزازیة الفتوٰی فی زماننا علی قول مالك (ردالمحتار للشامی کتاب المفقود ج۳ ص۴۵۶. ط. س. ج۳ ص۲۹۵). ظفیر

اودهوکه یې ورکړه اوخپله نکاح یې دهندي سره وکړه مګر اوس هنده په خپل کور کې ده اوخلوت صحیحه هم نه وو سوې چې دزید مذکور ټول فریب ښکاره سو نو په دې سبب هنده اوددې ولي نکاح فسخ کړه نو په دې صورت کې هنده دوهمه نکاح کولی سي اوکه نه؟

جواب: که چیري زید خپل مرض مذکور پټ وساتی، اوهنده او ددې ولي دزید دمرض مذکور څخه بې خبره وه اونکاح یې وکړه نو په دې صورت کې نکاح دهندې دزید سره صحیح سوه خو هنده اوددې ولي ته اختیار دفسخ په قول مفتٰی به نسته، ولا یتخیر احد الزوجین بعیب فی الاخر ولوفاحشا کجنون وجذام وبرص الخ (۱)، اوپه دې کې دامام محمد خلاف دی مګر مفتی به قول دشیخینو دی اوکه چیری زید دهوکه ورکړه اودایی وویل چې په ماکې څه مرض قبیح لکه جذام برص وغیره نسته اوهنده اوددې ولي یې مطمئن کړه اودهندې ولي په دې بناء باندې یعنی په زید کې یې مرض مذکور نه وو پیژندلی اونکاح یې وکړه اوبیا ددې خلاف ښکاره سوه نو په دې صورت کې هندې او ددې ولي ته اختیار دفسخ دنکاح نسته، نوکله چې دهندې ولي ددې نکاح فسخ کړه نو هغه نکاح فسخ سوه اوهنده ته په بل ځای کې دنکاح کولو اختیار دی، کما فی الدر المختار لو تزوجته علی انه حر اوسنی اوقادر علی المهر والنفقة فبان بخلافه اوعلی انه فلان بن فلان فاذا هو لقیط اوابن زنا کان لها الخیار الخ (۲) ج۲ ص۵۹۷ شامی. فقط

کم سړی چې خپلې ښځې ته تکلیف رسوي نو هغه څه وکړي؟ **سوال**: (۹۸۳) خلاصه دسوال داده چې یوسړی خپلې ښځې ته ډیر تکلیف رسوي ، اونان نفقه نه ورکوي بلکې دنان او دنفقې په غوښتلو کې یې دا الفاظ وویل زموږ څه مطلب نسته چې څه ددې زړه غواړي نو هغه دې وکړي، نو په دې صورت کې انجلی څه طرز عمل اختیار کړي اوانجلی دوهمه نکاح کولی سي اوکه نه؟

جواب: په دې صورت کې چې څنګه هم کیدی سي دخاوند څخه دې طلاق واخلي او په خاوند باندې فرض ده چې فوراً طلاق ورکړي چې کله هغه امساك بالمعروف نسي کولی نوتسریح باحسان لازمی ده، قال الله تعالی فامساك بمعروف اوتسریح باحسان (۳)، اوس که چیري هغه ددې څخه وروسته هم طلاق ورکولو ته تیار نه سو نو بیادې مسلم ریاست ته ولاړه سي دښځې دطرف څخه دې قاضي ته درخواست ورکول سي اوهغه قاضي یو

(۱) ایضا باب العنین وغیره ج۲ ص۸۲۲. ط. س. ج۳ ص۵۰۱. ظفیر
(۲) الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب العنین ج۲ ص۸۲۲. ط. س. ج۳ ص۵۰۱. ظفیر
(۳) سورة البقره رکوع: ۲۹. ظفیر

شافعي المذهب قاضي پكار دى چى دنان اودنفقى دنه ادا كولو په صورت كى تفريق كولى سى تفريق به وكړى اودا قضاء به دښځى په حق كى نافذه سى ([1]) او ددى ځخه وروسته بيا ديته دنكاح ثانى اختياردى اوكه چيري دا الفاظ چى زموږ څه مطلب اوڅه كار نسته خاوند په نيت دطلاقو ويلى وى اويايى په مذاكره دطلاقو كى ويلى وى نو په دى الفاظو سره طلاق بائن دده پرښځى واقع سو نو دعدى ځخه وروسته ددوهم سړى سره ددى نكاح جائز ده. فقط

<u>دليونى ښځه څه وكړى؟</u> سوال: (۹۸۴) ديوى لس كلنى انجلى نكاح دانجلى ولى ديو شپاړسو اوولسو كالو ځوان سره وكړه دنكاح ځخه دوه كاله وروسته ځوان ناجوړه سو او ليونى سو دځوان وارثانو پوره څلور كاله يونانى اوډاكترى معالجه دخپل حيثيت مطابق وكړه ليكن ځوان ته څه ارام ونه سو نو مجبوره سول اودى يى دليونو شفاخانى ته وليږى ددوه دوه نيم كالو ځخه په پاګل خانى كى داخل دى او تراوسه پورى حالت خراب دى اوس دانجلى څه وارث اوخبر اخيستونكى نسته نو اوس انجلى په خپله خپله نكاح دچا سره كولى سى اوكه نه؟

جواب: داحنافو دمذهب موافق ددى انجلى دنكاح ثانى دجواز دپاره كم صورت نسته ([2]) ځكه چى دليونى ښځه دده دنكاح ځخه نه حاكم جلا كولى سى اونه پخپله دليونى طلاق معتبر دى البته وروسته دمرګ ددديوانه ځخه چي عده دوفات پوره كړى بيا دده ښځه نكاح ثانى كولى سى قال فى الدرالمختار ولايتخير احد الزوجين بعيب فى الاخر ولو فاحشا كجنون وجذام وبرص الخ ([3]). فقط

<u>دليونى دطرف ځخه ولى يا قاضى طلاق وركولى سى اوكه نه؟</u> سوال: (۹۸۵) ولى جائز يا قاضى محتسب دمهجور په شان دمجنون اودفاتر العقل زوجۀ شرعى ته طلاق وركولى سى اوكه نه؟ خصوصا چى كله خلوت صحيحه هم نه وى سوى؟

جواب: دمجنون طلاق نه واقع كيږى اودده ولى ياقاضى هم دده دطرف ځخه طلاق نه سى وركولى لحديث ابن ماجه الطلاق لمن اخذ الساق درمختار ([4]).

([1]) وجوزه الشافعي باعسار الزوج ويتضررها بغيبة ولو قضى به حنفى لم ينفذ نعم لوامر شافعيا فقضى به نفذ (الدرالمختار على هامش ردالمحتار باب النفقة ج۲ ص۹۰۳. ط. س. ج۳ ص۵۹۰). ظفير

([2]) په دى زمانه كى دډيرى مجبورى په وجه په دى مسئله كى دامام مالك اودامام محمد رحمهما الله دمذهب موافق حكم دجواز دفسخ يې وركړيدى چى ددى تفصيل په الحيلة الناجزة كى ذكر سويدى، وخالف الائمة الثلاثة فى الخمسة مطلقا ومحمد فى الثلاثة الاول والجنون والجذام والبرص لوبالزوج كما يفهم من البحر وغيره (رد المحتار باب العنين ج۲ ص۸۲۲). ظفير

([3]) الدرالمختار على هامش ردالمحتار باب العنين وغيره ج۲ ص۸۲۲. ط. س. ج۳ ص۵۰۱. ظفير =

دمجنون ښځه جداوالي اختيارولي سي اوكه نه؟ سوال: (۹۸۶) دمجنون ښځه دده څخه جلا کيدی سی؟ اوپه دوی کی په خپل مينځ کی تفريق کيدی سی اوكه نه؟ البته دامام ابو حنيفه رحم الله عليه دمذهب موافق !

جواب: دامام ابوحنيفه رضی الله عنه دمذهب موافق چی مفتٰی به دی دمجنون ښځه دده څخه نسی جداکيدی، فی الدرالمختار ولايتخير احد الزوجين بعين فی الاخر ولوفاحشا كجنون وجذام وبرص ([1])، اوپه شامی کی دامام محمد ﷫ اودائمه ثلاثه ؤ خلاف نقل کړيدی، وقدتكفل فی الفتح برد ما استدل به الائمة الثلاثة ومحمد بما لامزيد عليه ([2]).

دمجنون ښځه چی هغې ته دزنا خطره ده او دنان او نفقی سامان هم نسته دوهم واده کولی سی اوكه نه؟ سوال: (۹۸۷) يوسړی مجنون سو اودده ښځه ځوانه ده او دزنا بيره کوی او ددی دګذاری څه صورت نسته نو آيا هغه نكاح فسخ سوه اوكه نه؟ اودجنون څه موده معلومه ده اوكه نه؟ اوكه په دوهم مذهب باندی عمل وکړی نونكاح فسخ كولی سی اوكه نه؟ اوكه چيري فسخه كولی يې سی نو دچاپه مذهب؟ او ددی څه دليل دی؟

جواب: په دی صورت کی داحنافو په نزد دمجنون دښځی نكاح فسخ نه سوه، او دوهمه نكاح ددی صحيح نه ده، دامام محمد اوائمه ثلاثه ؤ په دی کی خلاف دی، ليكن فقهاؤ په دی باره کی حنفی ته اجازه نه ده ورکړی دنورو ائمه ؤ او دامام محمد ﷫ په مذهب باندي دعمل كولو. كذا فی الشامی ([3]). فقط

كم مجنون چی په پاګل خانه کی دی نو دده ښځه څه وکړی؟ سوال: (۹۸۸) يوسړی مجنون سو اوپه حالت دجنون کی يی يوسړی مړکی، حاكم دی دار المجانين ته ليږلی دی چی دهغه كلونه سويدی ليكن اوس هم دهغه مجنونانه حالت دی نو دده دښځی دپاره دخلاصون څه صورت دی ځكه چی دېته دنان او نفقی حاصلول ډير تكليف دی نو دی ته دنكاح دفسخ كولو اختيار سته اوكه نه؟

جواب: دامام صاحب مفتٰی به مذهب موافق دمجنون ښځی ته دنكاح دفسخ كولو اختيار

([4]) الدرالمختارعلی هامش ردالمحتاركتاب الطلاق ج۲ ص۵۸۵. ط.س. ج۳ ص۲۴۲) په اوسنی دورکی دډيري مجبوری په وجه سره دامام مالك اودامام محمد ﷭ دمذهب پربناء دفسخ حكم وركول سويدی دتفصيل دپاره وګوری الحيلة الناجزة للتهانوی. ظفير

([1]) الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب العنين وغيره ج۲ ص۸۲۲. ط. س. ج۳ ص۵۰۱. ظفير

([2]) ردالمحتار باب العنين وغيره ج۲ ص۸۲۲. ط. س. ج۳ ص۵۰۱. ظفير

([3]) حضرت تهانوی رحمه الله په خپله زمانه کی دتمام علماء هند په اتفاق سره دائمۀ ثلاثه اودامام محمد ﷭ پرقول چی فسخ دنكاح ده فتوٰی ورکړيده دتفصيل دپاره وګوری الحيلة الناجزه. وخالف محمد فی الثلاثة الاول لو بالزوج كما يفهم من البحر وغيره (ردالمحتار باب العنين ج۲ ص۸۲۲. ط. س. ج۳ ص۵۰۱). ظفير

نسته دامام محمد امام شافعی رحمهما الله وغیره په نزد دفسخ دنکاح اختیار سته، کذا فی الدرالمختار نوکه چیري ځوك شافعی المذهب ته رجوع وکړی اونکاح فسخ کړی نو صحیح (۱) ده شامی.

دمجنون اودده دولی طلاق نه سی واقع کیدی: **سوال**: (۹۸۹) دمجنون طلاق واقع کیدی سی اوکه نه؟ که چیري نه سی کیدی نو دده ولی طلاق ورکولی سی اوکه نه؟

جواب: په مشکوٰة شریف کی په باب الخلع والطلاق کی داحدیث دی، وعن علی قال قال رسول الله ﷺ رفع القلم عن ثلثة عن النائم حتی یستیقظ وعن الصبی حتی یبلغ وعن المعتوه حتی یعقل رواه الترمذی (۲)، ددی حدیث څخه معلومه سوه چی دنابالغ او دمجنون طلاق نه واقع کیږی نو دولی طلاق هم نه واقع کیږی، لحدیث ابن ماجه الطلاق لمن اخذ الساق (۳). فقط

هغه مجنون چی کله ورته هوش راځی نو دده ښځه څه وکړی؟ **سوال**: (۹۹۰) سړی مجنون دی اوښځه یی ځوانه ده دمجنون مور او ورونه دمجنون دښځی کفایت نه کوی چی پر هوش وو نو دده یو بچی هم پیداسو، خومجنون دپنځو کالو دمودی څخه په خراب حالت کی دی مګر کله ناکله دیوځو منتو دپاره په هوش کی راځی مګر دښځی کفایت بالکل نه سی کولی، نوپه داسی صورت کی چی مور، وروڼه چی ددی ښځی دپرورش څخه انکار کوی نواوس دښځی دپاره څه حکم دی؟

جواب: دمجنون سړی دښځی په باره کی په درمختار کی دی چی دامام ابوحنیفه اوامام ابی یوسف رحمهما الله په نزد دده ښځی ته اختیار دفسخ دنکاح نسته اوامام محمد اختیار ورکړیدی لیکن علامه شامی ویلی دی چی په فتح القدیر کی یی دامام محمد قول رد کړیدی، نو ښه قول دشیخینو دی چی تفریق نه سی کیدی، ولایتخیر احد الزوجین بعیب فی الاخر ولو فاحشا کجنون وجذام وبرص ورتق وقرن وخالف الائمة الثلاثة فی الخمسة مطلقا ومحمد فی الثلاثة الاول لو بالزوج الخ، په شامی کی دی، قوله الخ وفیه ایضا وقد تکفل فی الفتح برد ما استدل به الائمة الثلاثة ومحمد بما لامزید علیه (۴). فقط

---

(۱) ولا یفرق بینهما بعجزه عنها بانواعها الثلاثة ولا بعدم ایفائه حقها وجوزه الشافعی باعسار الزوج وبتضررها بغیبة ولوقضی به حنفی لم ینفذ نعم لو امر شافعیا فقضی به نفذ (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب النفقة ج۲ ص۹۰۳، ط. س. ج۳ ص۵۹۰). ظفیر

(۲) مشکوٰة باب الخلع والطلاق ص۲۸۴. ظفیر

(۳) الدرالمختار علی هامش ردالمحتار کتاب الطلاق ج۲ ص۵۸۵. ط. س. ج۳ ص۲۴۲، لا یقع طلاق المولی علی امرأة عبده لحدیث ابن ماجه الطلاق لمن اخذ الساق والصبی ولو مراهقا واجازه بعد البلوغ (ایضا. ط. س. ج۳ ص۲۴۲). ظفیر

=

چي مجنوني ښځې ته يې طلاق ورکې نو څه حکم دی؟ سوال: (۹۹۱) ښځه مجنونه ده او سړی روغ دی اوښځې ته يې طلاق ورکې نوڅه حکم دی؟

جواب: که چيري ښځه مجنونه ده اوسړی مجنون نه دی بلکې عاقل بالغ دی نو دده طلاق واقع کيږی، ويقع طلاق کل زوج عاقل بالغ الخ (۱). فقط

چي کم ليونی کله ښه ليونی وی نوکه چيري دصحت په حالت کې طلاق ورکړی نو څه حکم دی: سوال: (۹۹۲) ديوی انجلی يوولس کاله دواده وسوه چی خلوت صحيحه هم نه دی سوی چی ددی دخاوند دماغ خراب سو دارنگه دری څلور ورځې ښه اولس پنځلس ورځی ليونی وی، نو چی په کم وخت کی چی خاوند ښه وو نو ده خپلی ښځی ته طلاق ورکړی نو طلاق واقع سو اوکه نه؟ اوس دمذکوره انجلی عمر اوولس کاله دی اوبغير دعدی يی دوهمه نکاح کړيده نو داجائز ده اوکه نه؟

جواب: که چيري په حالت دهوش کی هغه بالکل ښه کيږی څه خلل دماغی ده ته نه پاته کيږی نوددی حالت طلاق دده واقع کيږی، کمافی الشامی وجعله الزيلعی فی حال افاقته کالعاقل والمتبادر منه انه کالعاقل البالغ الخ وماذکره الزيلعی علی ما اذاکان تام العقل (۲) نو په صورت ثانی کی نکاح صحيح ده، قال الله تعالی: ثم طلقتموهن من قبل ان تمسوهن فمالکم عليهن من عدة تعتدونها فمتعوهن وسرحوهن سراحا جميلا (۳).

دليوني دښځې دپاره دامام محمد په مذهب عمل څنګه دی؟ سوال: (۹۹۳) يو سړی ديوانه سو نو دده ځوانی ښځی لره دامام محمد په مذهب عمل کول اونکاح کول دوهمه صحيح دی اوکه نه؟

جواب: اقول وبالله التوفيق قال فی الدرالمختار ولايتخير احد الزوجين بعيب فی الآخر ولوفاحشا کجنون وجذام وبرص الخ وخالف الائمة الثلاثة فی الخمسة مطلقا ومحمد فی الثلاثة الاول لو بالزوج ولوقضی بالرد صح فتح وفی الشامی قوله ولو قضی بالرد صح ای لوقضی به حاکم يراه فافاد انه مما يسوغ فيه الاجتهاد الخ وقال قبيله وقد تکفل فی الفتح برد ما استدل به الائمة الثلاثة ومحمد بما لامزيد عليه (۴)، ددی څخه معلومه سوه چی دامام محمدقول په دی باره کی مفتٰی به نه دی البته که قاضی ياحاکم فسخ وکړی نو نافذه به سی لانه مما يسوغ فيه الاجتهاد.

(۴) وګوری ردالمحتار باب للشامی باب العنين وغيره ج۲ ص۸۲۲. ط. س. ج۳ ص۵۰۱. ظفير

(۱) الدرالمختار علی هامش ردالمحتار کتاب الطلاق ج۲ ص۵۷۹. ط. س. ج۳ ص ۲۳۵. ظفير

(۲) ردالمحتار کتاب الحجر ج۵ ص....، ط. س. ج۳ ص ۱۴۴. ظفير

(۳) سورة الاحزاب رکوع : ۶. ظفير

(۴) وګوری ردالمحتار باب العنين ج۲ ص۸۲۲. ط. س. ج۳ ص۵۰۱. ظفير

هغه مجنون چې هغه ته يوه يا دوې ورځې هوش راسی نو دده طلاق واقع کيږي: سوال: (۹۹۴) دهندی خاوند زيد ليونی دی دهندی دګذاری تيرولو دوخت څه ذريعه نسته نو هنده مذکوره دده څخه طلاق غواړی اودزيد حالت دادی چې کله کله ګهنټه يانيمه ګهنټه ياورځ دوې ورځې په هوش کی راځی نوپه داسی وخت کی دزيد طلاق واقع کيږی اوکه نه؟

جواب: زيد چې په کم وخت کی په هوش کی وی که چيرې بالکل تام العقل اوهوښيار وی نو په دی حالت کی که چيري هغه طلاق ورکړی نو طلاق يې واقع کيږی اوکه چيري په دی وخت کی هم کامل العقل نه وی نو دده طلاق نه واقع کيږی اوپه حالت دليونتوب کی هم طلاق نه واقع کيږی، قال فی الشامی فيحترز به عمن يفيق احيانا ای يزول عنه ما به بالکلية وهذا کالعاقل البالغ فی تلك الحالة وهو محمل کلام الزيلعی [۱]. فقط

چې پنځلس ورځې روغ وی اوپنځلس ورځې ليونی نو چې په حالت دصحت کی طلاق ورکی نو کيږي اوکه نه؟ سوال: (۹۹۵) زيد ددرو کالو څخه ليونی سوی دی اوپه پاګل خانه کی دده علاج کيږی په قول دډاکټر دده په دی وخت کی داسی حالت سويدی چې پنځلس ورځې دده طبيعت صحيح اودرست وی اوپه ښه اوبدکار په ښه شان سره فرق کوی کله چې په داسی حالت کي ځوك خپلوان دده سره ويني نو دټولو خپلوانو پوښتنه ورځخه کوی اوپنځلس ورځې طبيعت دده خراب وی دښو اودبدو کارونو تميز نه سی کولی نوکه چيري په حالت دهوش کی که چيري هغه تام العقل وی نوطلاق دده صحيح دی اوکه نه؟

(۲) دزيدمنکوحه مسکينه اوغريبه ده ځوك پوښتنه کوونکی يې نسته، لهذاامام محمد رحمه الله په قول باندي په عمل کولو سره تفريق کولی سي اوکه نه؟

جواب: په حالت دهوښيارتيا کي که هغه کامل العقل ګرځي نو دهغه طلاق صحيح دی، کما حققه الکمال قال فی الشامی جلد خامس کتاب الحجر عمن يفيق احياناً ای يزول عنه ما به بالکلية وهذا کالعاقل البالغ في تلك الحالة [۲]. شامی جلد خامس کتاب الحجر.

(۲) علامه شامی په دی موقع باندي وويل: وقد تکفل فی الفتح برد ما استدل به الائمة الثلاثة ومحمد بما لا مزيد عليه [۳]، نومعلومه سوه چې په موجب دقول دامام محمد فتوٰی ورکول صحيح نه دی او تفريق به صحيح نه وی، اصل مذهب دادی چې په دی زمانه کی دنزاکت او دقاضی شرعی دنه کيدلو په وجه سره دښځو پرمظلوميت نظر وکی ددی زمانی علماؤ دامام مالك پرمذهب دتفريق اجازه ورکړيده چې دهغه دپاره څه شرائط

---

(۱) ردالمحتار کتاب الحجرج۵ ص۱۲۴، ط. س. ج۳ ص۱۴۴. ظفير

(۲) ردالمحتار کتاب الحجرج۵ ص۱۲۴. ط. س. ج۳ ص ۱۴۴. ظفير

(۳) ردالمحتار باب العنين ج۲ ص۸۲۲. ط. س. ج۳ ص ۱۰۵. ظفير

ضروری دی. (داتول شرائط اواحکام یې په الحیلة الناجزة للحیلة العاجزة ([1]) کی ضبط کړی دی دادی وکتل سي. مرتب). فقط

داسی هلک چی دهغه حواس روغ نه دی او وینا نه سی کولی نوهغه به طلاق څنګه ورکوی؟

سوال: (۹۹۲) دیوه هلك نکاح په پنځه شپږ کلنی دعمر کی وسوه اوس هغه بالغ دی مګر داول څخه دده هوش اوحواس روغ نه وه نه هغه خبری کولی سی اونه ددین دنیا څخه خبر دی نو دده دطلاقو څه صورت کیدی سی؟ اودطلاقو عدت به یې وی اوکه نه؟

جواب: که چیري داهلك لیونی وی اودده هوش اوحواس صحیح نه وی دښه اودبدو تمیز نه سی کولی نو دامام محمد دمذهب موافق قاضی په دوی کی تفریق کولی سی او ددی څخه وروسته هغه ښځه دوهمه نکاح کولی سی اوکه چیري وطی اوخلوت صحیح هم تر اوسه پوری ونه سو نوبیا عده هم نسته، قال محمد ان کان المجنون حادثا یؤجله سنة کالعنة وان کان مطبقًا فهو کالجب وبه ناخذ کذا فی الحاوی ([2]) القدسی عالمګیریة وفی الدرالمختا واذا وجدت المرأة زوجها مجبوبا الخ فرق بینهما فی الحال لعدم فائدة التاجیل ([3]) الخ. فقط

دجذام والا ښځه تفریق کولی سی: سوال: (۹۹۷) دولی محمد واده دکریما سره وسو چی شپږ کاله یې وسوه، تردرو کالو پوری ښځه دخاوند سره وه وروسته ددرو کالو څخه خاوند ته آثار دوینی دخرابی ښکاره سوه اواوس ده ته مرض دجذام ښه ښکاره سو، نو ښځه جدااوالی غواړی ددی دپاره چی دوهم عقد وکړی، څه حکم دی؟

جواب: په درمختار کی دی چی دامام ابوحنیفه رحمه الله دمذهب موافق په مرض دجذام او برص وغیره کی تفریق نه کیږی اوښځی ته به دوهمه نکاح کول جائزنه وی خو امام محمد رحمه الله فرمایلی دی چی دجذام او دبرص په صورت کی که چیري خاوند طلاق ورنه کړی نو حاکم تفریق کولی سی نو اولنی خاوند ته به وویل سی چی هغه طلاق ورکړی اوکه هغه طلاق نه ورکوی نو په حاکم شرعی سره به تفریق وکړی ([4]) (دلائل مخکی هم ددر مختار څخه نقل سویدی. ظفیر). فقط

خاوند ته چی دجذام ناجوړی وی نو ښځی ته خیار فرقت حاصل دی : سوال : (۹۹۸) زید ته

([1]) دتفصیل دپاره وګورئ: الحیلة الناجزة للتهانوي وکتاب الفسخ والتفریق للرحماني. ظفیر

([2]) عالمګیری باب العنین ج۱ ص۵۲۲. ظفیر

([3]) الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ط. س. ج۳ ص۴۹۴. ظفیر

([4]) واذا کان بالزوج جنون او برص اوجذام فلا خیار لها عند ابی حنیفة وابی یوسف وقال محمد لها الخیار دفعا للضرر عنها کما فی الجب والعنة (هدایه باب العنین ج۲ ص۳۹۸ – ۳۹۹). ظفیر

جذام لګیدلی دی، ددی وجه دده ښځه زینب خلع غواړی مګرخاوند مذکور یی پرینښوول نه غواړی نو دجدایی دپاره څه صورت اختیار کړی؟

جواب: دجذام اودبرص او دلیونتوب په وجه سره دامام محمد دمذهب موافق ښځی ته خیار فرقت حاصل دی اوهغه دخپل خاوند څخه جداوالی حاصلولی سی یعنی ددی دا حق سته چی هغه دشرعی قاضی وغیره سره دتفریق درخواست وکړی، نو په صورت مسئوله کی کله چی دخلع اودطلاق وغیره څه صورت نسته نو دامام محمد په مذهب عمل کولی سی، واذا کان بالزوج جنون اوبرص اوجذام فلاخیار لها عند ابی حنیفة وابی یوسف وقال محمد لها الخیار دفعا للضرر (۱) عنها الخ هدایه، قال محمدان کان الجنون حادثا یؤجله سنة کالعنة ثم یخیر المرأة الخ وان کان مطبقا فهو کالجب وبه ناخذ حاوی القدسی. عالمګیریه (۲). فقط

څوارلسم باب

دمفقود الخبر دښځی سره متعلق احکام او مسائل

دمفقود دښځی په هکله دامام مالک فتوٰی او داحنافو عمل: سوال: (۹۹۹) یوجواب را ورسیدی چی دهغه مضمون دادی: دمفقود ښځی ته څلور کاله وروسته دعده دوفات لس ورځی اوڅلور میاشتی دپوره کیدو څخه وروسته نکاح صحیح ده اوکه چیری خاوند راسی نوهغه ښځه به ده ته ورکول کیږی اوکم اولاد چی ددوهم خاوند څخه سوی وی نو هغه به ده ته ورکول سی. فی الشامی باب المفقود.

که چیري اولنی خاوند راسی نو دمالکیه وو په دی کی دوه قوله دی یودا دی چی هغه به داولنی خاوند سره ځی اودوهمه نکاح به فسخه ګڼل کیږی، دوهمه داچی نکاح دوهمه سبب دفسخ دنکاح اول ده نودغه ښځه به ددوهم خاوند سره وی اواول ته به څه حق باقی پاته نه سی اودجمهورو مالکیه وو په نزد هم داقول معتبردی اوهم مفتی به دی، دمولانا عبد الحی صاحب رحمه الله دفتاوٰی څخه، په دې کی اوستاسو په جواب کی تطبیق څه دی؟ اوکه چیري اولنی خاوند ته ورکول سی نوده ته به دنکاح څه ضرورت وی اوکه نه؟ او دوهم خاوند ته طلاق ورکول اوښځی ته دعدی تیرول به وی اوکه نه؟ او ددوهم خاوند پر ذمه به مهر لازم وی اوکه نه؟

جواب: په شامی جلد ثالث باب المفقود کی دی: لکن لوعاد حیا بعد الحکم بموت اقرانه قال الطحاوی الظاهر انه کالمیت اذا احی والمرتد اذا اسلم فالباقی فی ید ورثته له ولا

---

(۱) وګوری هدایه باب العنین وغیره ج۲ ص۳۹۸ – ۳۹۹. ظفیر

(۲) وګوری عالمګیری باب العنین ج۱ ص۵۲۲ ماجدیه. ظفیر

يطالب بما ذهب قال ثم بعد رقمه رأيت المرحوم ابا السعود نقله عن الشيخ شاهين ونقل ان زوجه له والاولاد للثانی (۱)، ددی عبارت څخه کم مطلب چی احقر ليکلی وو نو هغه ښکاره دی اوعبد الحی مرحوم په سبب دنه کتلو ددی حکم په ښکاره قواعدو سره حکم ليکلی دی ځکه چی قاعده مشهوره داده چی دکم امام مذهب اختيار کړه سی نو ددی متعلق دهغه دشرائطو پابندی به کول کيږی سی چونکی داحادثه اومسئله بيله ده نو ددی وجه په دی کی دخپل مذهب موافق عمل کول اوفق دی او دلفظ د: زوجة له، څخه په خپله ښکاره ده چی دنکاح جديد اول خاوندته ضرورت نسته اودوهم خاوندته دطلاقو حاجت نسته، اوپه صورت دوطی کی به عده لازميږی لکه څنګه چی په موطوئة بالشبهة کی عده لازميږی او ددوهم خاوند پرذمه وروسته دوطی څخه مهر مثل لازميږی. فقط

دچا خاوند چی دلسو کالو څخه مفقود وی هغه به دامام مالک په فتوٰی عمل وکړی: **سوال**:

(۱۰۰۰) دمسماة بي بي وزيرو دخاوند لس کاله وسوه چی لادرکه دی نو دده ښځه وزيرو دوهمه نکاح کولی سی اوکه نه؟

جواب: کله چی واقعی مهدی حسن خاوند دمسماة وزيرو دلسو کالو دمودی څخه مفقود الخبر دی، نو موافق دمذهب دامام مالك رحمه الله پرکم چي حنفي علماؤ هم فتوٰی ورکړيده اوس مسماة وزيرو دوهمه نکاح کولی سی، کذا فی الشامی قوله خلافا لمالك فان عنده تعتد زوجة المفقود عدة الوفات بعد مضی اربع سنين الخ (۲). فقط

دشپيتو کالو سړی داوو کالو څخه غائب دی نودی به ژوندی ګڼل کيږی اوکه مړ: **سوال**:

(۱۰۰۱) کم سړی چی داوو کالو څخه ورك دی اودده عمر اندازةً شپيته کاله دی نودی به ژوندی شميرل کيږی اوکه مړ؟ اوکه مړ ګڼل کيږی نو دکله څخه؟

جواب: په کتابونو دفقه وغيره کی دی چی اصل مذهب دامام ابوحنيفه دادی چی ترکم وخته پوری دده اقران يعنی هم عمر مړه نه سی نوترهغه وخته پوری به هغه سړی مفقود الخبر ژوندی ګڼل کيږي، دده مال به دده پروارثانو نه تقسيميږي، بيا فقهاؤ دهم عمرو دوفات کيدلو زمانه محدوده کړيده بعضو فرمايلی دی چی يوسل اوشل کاله اوبعضو سل کاله، بعضو نوی ۹۰ اومتاخرينو په شپيته۲۰ يا اويا ۷۰ کاله عمر کيدلو باندی دمرګ دمفقود حکم کړيدی اوزياتو فقهاؤ پرنوی۹۰کاله باندی فتوٰی ورکړيده، واختاره فی الکثرة وهوالاوفق هدايه (۳) وعليه الفتوٰی ذخيره شامی وقد قال فی النظم المعروف:

---

(۱) ردالمحتار کتاب المفقود ج۳ ص ۴۵۸. ط. س. ج۳ ص ۲۹۷. ظفير

(۲) ايضا ج۳ ص...... ، ط. س. ج۳ ص ۲۹۵. ظفير

(۳) هدايه کتاب المفقود ج۲ ص۵۸۲. پوره عبارت دادی: واذا تم له مائة وعشرون سنة من يوم ولد حکمنا =

مال مفقود را معطل دان تانود سال از ولادت آن

نو ددی قول مفتٰی به موافق چی په کم وخت کی دسړی مفقود الخبر عمر نوی کاله وسی نو ده ته به حکم دمرګ ورکړی اودده میراث به په موجوده وارثانو تقسم سی، یعنی چی کم وارثان په دی وخت کی موجود دی دوی ته به ورکول سی اوکم چی دده څخه مخکی مړه سویدی نو هغه به محروم وی، کما فی الدرالمختار ویقسم ماله بین ورثته الآن الخ درمختار ای حین حکم بموته لا من مات قبل ذلك الوقت شامی (۱). فقط

دخاوند ددوو کالو او داوو میاشتو دغائبیدو څخه وروسته چی کمه نکاح وسوه نو هغه صحیح نه ده: **سوال:** (۱۰۰۲) زید ددوو کالو او داوومیاشتو څخه مفقود الخبر وو، دده دښځی وارثانو دزید دښځی دوهمه نکاح دوه کاله او اوه میاشتی وروسته دعمر سره وکړه، پر ۲۵ دشعبان سنه ۱۳۴۰ھ کی عقد ثانی وسو اوپه ۲۹ دمحرم سنه ۱۳۴۲ھ کی زید مفقود الخبر صحیح سالم بیرته راغی نو هغه ښځه به ده ته ورکول کیږی اوکه نه؟

جواب: دزید دښځی دوهمه نکاح چی دخاوند اول دمفقود کیدلو څخه دوه کاله او اوه میاشتی وروسته وسوه نو دیوه مذهب سره هم صحیح اوموافق نه سوه (۲) اوکله چی زید بیرته راغی نوهغه ښځه به ده ته ورکول کیږی اونکاح ددی دزید سره قائمه ده ځکه چی دنکاح دفسخ څه وجه پیدانه سوه، کذا فی عامة کتب الفقه. فقط

نوجوانه ښځه چی دهغه خاوند غائب دی نو څه وکړی؟ **سوال:** (۱۰۰۳) یوسړی دځلورو کالو څخه مفقود الخبردی دده منکوحی ته ډیر ضروریات دنکاح ثانی طرف ته رابلونکی دی نوی ځوانه ده دارتکاب دممنوع شرعی بیره ده، نفقه، کسوت، سکنی دخاوند دطرفه نه ورکول کیږی نو په داسی حالت دضرورت کی شرعا ښځی ته په بل ځای کی نکاح کول جائز دی اوکه نه؟

جواب: په دی مسئله کی دصحابه اوتابعینو اوائمۂ مذهب ترمینځ ډیر لوی اختلاف دی حضرت عمر ؓ اویولوی جماعت دصحابه کرامو قائل دی چی زوجه دمفقودته ترځلورو کالو پوری انتظار کول په کاردی ددی څخه وروسته چی عده دوفات یی ختمه سی نو دوهمه نکاح کولی سی بعضو پردی باندی دعوٰی داجماع دصحابه ؤ هم کړیده اودا قول

= بموته وفی ظاهر المذهب یقدر بموت الاقران وفی المروی عن ابی یوسف بمائة سنة وقدره بعضهم تسعین الخ والاوفق ان یقدر بتسعین واذا حکم بموته اعتدت المرأة عدة الوفاة من ذالك الوقت (ایضا). ظفیر

(۱) ردالمحتار کتاب المفقود ج۳ ص۴۵۸. ط. س. ج۳ ص۲۹۸. ظفیر

(۲) اذا غاب الرجب فلم یعرف له موضع ولم یعلم احی هو ام میت نصب القاضی من یحفظ ماله الخ ولا یفرق بینه وبین امراته وقال مالك اذا مضی اربع سنین یفرق القاضی بینه وبین امراة (هدایه کتاب المفقود ج۲ ص۵۸۴).

علاوه دحضرت عمر رضی الله عنه څخه په یوروایت کی دحضرت عثمان رضی الله عنه اوحضرت علی رضی الله عنه طرف ته هم منسوب دی (زرقانی) اودا قول دامام مالك هم دی صحابه په شان دحضرت ابن مسعود رضی الله عنه اودحضرت علی رضی الله عنه دنورو روایاتو په بناء دافرمایی چی دمفقود ښځی ته ترهغه وخته پوری انتظار کول په کاردی چی ترکم وخته پوری دمفقود خاوند مرګ ښکاره کی اومحقق سی اودا قول حضرت امام ابو حنیفه رحمه الله خوښ کړیدی لکه چی په دی کي دفقهاؤ حنفیه وو لاندینی اقوال مشهور دی:

(۱) دمفقود داقرانو (همزولو) ترمړه کیدلو پوری به مفقود ژوندی ګڼل کیږي.

(۲) تر نوی ۹۰ کالو پوری به ژوندی متصور کیږی.

(۳) تر سلو کالو پوری.

(۴) تر یوسل او شلو کالو پوری به دمفقود دمرګ حکم نه سی کیدی.

(۵) دقاضی پر رایه باندی مفوضه ده، کم وخت چی قاضی ته په دی کی مصلحت په نظر راغی ترهغه وخته به دمفقود دمرګ حکم کول کیږی، چی دهغه حاصل دادی چی څه موده معلومه دی مقرره نه سی لکه څه رکم چی دامام ابوحنیفه رحمه الله عام مسلك دادی چی دمبتلی به پر رایه باندی تفویض کوی نو همداسی به دلته اختیار سی، کمافی البحر واختار شمس الائمه ان لایقدر (بشيء لانه الیق بطریق الفقه لان نصب المقادیر بالرأی لا تکون وفی الهدایه انه الاقیس وفوضه بعضهم الی القاضی فای وقت رأی المصلحة حکم بموته قال الشارح وهو المختار بحر ج۵ ص۱۷۸، اوصاحب دقنیه داقول دامام ابوحنیفه رحمه الله روایت تسلیموی، کما قال عن نافع عن ابی حنیفة ان مدة الفقد مفوض الی رای القاضی فیحکم بما اوی الیه اجتهاده فیقسم ماله حینئذ بین الاحیاء من ورثته، قنیة ص ۱۸۰، اودامام زیلعی مختار هم داده، صاحب دبحر دینابیع څخه په نقل کولو سره داقول ظاهر روایت تسلیموی لکه چی په شامی کی دی، قوله واختار الزیلعی تفویضه للامام قال فی الفتح فای وقت رای المصلحة حکم بموته قال فی النهر وفی الینابیع قیل یفوض الی رای القاضی ولاتقدیر فیه فی ظاهر الروایة وفی القنیة جعل هذا روایة عن الامام آه اوصاحب دبحر مختار هم داقول معلومیږی، ددی وجه چی دنورو اقوالو داختیارولو والا په متعلق استعجاب ظاهروی اولیکی چی: والعجب من المشائخ کیف یختارون خلاف ظاهر المذهب مع انه واجب الاتباع علی مقلدی ابي حنیفة والامام محمد لم یعتبر السنین وانما اعتبره المتقدمون بعده وقال الصدر الشهید في شرحه ماقال محمد احوط کما في التتارخانیة ولقدصدق من قال کثرة المقالات تؤذن بکثرة الجهالات ومن الغریب ما نقله في التتارخانیة انه مقدر بثمانین سنة وعلیه الفتوٰی بحر ج۵ ص۱۷۸.

خلاصه داده چي تر یوی مودی معلومی پوری دانتظار کولو حکم چی داحنافو دمذهب ثخه ثابتیږی هغه په حقیقت کی دائمه حنفیهؤ ثخه منقول نه دی بلکی دائمه وو قول دا دی چي کله په آثار اوقرائنو سره دده دمرګ غالب ګمان وسی نو په هغه وخت کی به دمفقود دمرګ حکم کول کیږی لکه چی په بعضو ځایونو کی په لږ ثه مودی تیریدلو باندی دمرګ دحکم په ورکولو باندی قائل دی: کما فی الشامی نقلاً عن الزیلعی وقال الزیلعی لانه یختلف باختلاف البلاد وکذا غلبة الظن تختلف باختلاف الاشخاص فان الملك العظیم اذا انقطع خبره یغلب علی الظن فی ادنی مدة انه قدمات آهـ (۱)، ددی ثخه وروسته صاحب دشامی پخپله فرمایی: ومقتضاه انه یجتهد ویحکم بالقرائن الظاهرة الدالة علی موته وعلی هذا یبتنی (۲). فقط

دمفقود الخبر ښځه داول خاوند دراتللو ثخه وروسته به ده ته ورکول کیږی: سوال: (۱۰۰۴) دزید مفقود الخبر ښځه دزید تراوږدی مودی پوری دانتظار ثخه وروسته خپله دوهمه نکاح وکړه داوږدی مودی ثخه وروسته مفقود الخبر بیرته راغی اوده دعوه وکړه چی دا زما ښځه ده، اوځلور کاله یې مفقود الخبر کیدل ښکاره کړل، ددوهم خاوند ثخه دده دښځی بچی پیداسوی اوس دامعلومات غوښتونکي یوچی هغه ښځه به دزید ګڼل کیږی، اوبچی به دچا په نسبت کی داخل وی؟

جواب: په شامی کی تصریح ده که چیري مفقود الخبر بیرته راسی نو دده ښځه هم ده ته ورکول کیږی اوددوهم خاوند ثخه به جلاسی اواولاد ددوهم خاوند دی شامی (۳) ج۳، فقط والله اعلم.

دمفقود الخبر ښځی دوهم واده وکی بیا اول خاوند راغی مګر هغه ساتل نه غواړی، ثه حکم دی؟ سوال: (۱۰۰۵) دمفقود ښځی دوهمه نکاح وکړه، نو ددوهمی نکاح ثخه وروسته اولنی خاوند راغی نو اوس دوهمه نکاح صحیح اوجائز پاته سوه اوکه نه؟ که چیري وی نو ثه کول په کاردی؟ ځکه چی اولنی خاوند داساتل نه غواړی؟

جواب: داول خاوند دراتللو ثخه وروسته دوهمه نکاح جائز پاته نه سوه (۴)، نو که چیري اولنی خاوند داښځه ساتل نه غواړی نوصورت ددی دادی چی اولنی خاونددي دې ښځی

(۱) ردالمحتار کتاب المفقود ج۳ ص ۴۵۷. ط. س. ج۳ ص۲۹۷. ظفیر
(۲) ایضا ج۳ ص۴۵۷. ط. س. ج۳ ص۲۹۷. ظفیر
(۳) لو عاد بعد الحکم بموت اقرانه (الی قوله) نقل ان زوجة له والاولاد للثانی (ردالمحتار کتاب المفقود ج۳ ص ۴۵۸. ط. س. ج۳ ص۲۹۷). ظفیر
(۴) ایضا. ط. س. ج۳ ص۲۹۷. ظفیر

ته طلاق ورکړي اوهغه ښځه دې عده تردرې حيضه پوره کړي، او ددوهم خاوند سره چې دچا سره چې دې نکاح کړيده نوې مهر به مقرر کړي. فقط

دمخکنی خاوند دراتلو څخه وروسته به ښځه همده ته ورکول کيږي: **سوال**: (۱۰۰۶) دقبر څخه په شپږو مياشتو باندې يوسړې ژوندې راوتلی دې دده ښځه موجوده ده هغه به چاته ورکول کيږي؟

جواب: دده ښځه به هم ده ته ورکول کيږي، کمافی الشامی لکن لوعاد حيا بعد الحکم بموت اقرانه قال الظاهر انه کالميت اذا احی والمرتد اذا اسلم فالباقی بين ورثته ولا يطالب بما ذهب قال ثم بعد رقمه رأيت المرحوم ابا السعود نقله الشيخ شاهين ونقل ان زوجة له والاولاد للثانی ([1]). فقط

دخاوند دورکوالی څخه دوه کاله وروسته چې ښځې دوهم واده وکی نو هغه جائز نه سو:

سوال: (۱۰۰۷) ديوې ښځې خاوند پرديس ولاړې او ددوو کالو څخه ورك وو دڅلورو کالو څخه وروسته ددې پلار ددې دوهمه نکاح وکړه اودنکاح څخه دوه کاله مخکې ددې دخاوند خط هم راغلی وو، دوه بچيان يې هم ددوهم خاوند څخه پيداسوه، بيادډې اولنی خاوند هم راغی، هغه ښځه په خوشحالی مخکنی خاوند ته ولاړه، اوس معلومات ددې خبري پکار دی چې هغه ښځه دچا منکوحه ده اوهغه بچيان دچا دي؟

جواب: مخکنی نکاح قائمه ده او دوهمه باطله سوه اوهغه اولاد چې ددوهم خاوند څخه وسو نو هغه ولد الحرام دی. ([2]) فقط

دلسو کالو ورک سوی دانتظار کولو څخه وروسته دښځې دوهم واده: **سوال**: (۱۰۰۸) يو سړی دخپل کور څخه ورك سو چې دهغه لس کاله موده وسوه دده ښځه تنگه سوه او دوهم سړی ته ولاړه اوبغير دنکاح څخه اولاد يې هم سويدی، اوس دغه ښځه ددې سړي سره نکاح کولی سی اوکه نه؟

جواب: دې ښځې ته په کاردی چې اوس نکاح وکړي ځکه چې دامام مالك په مذهب کی دڅلورو کلو څخه وروسته مفقود الخبر ښځه به عده دوفات پوره کړي نودوهمه نکاح کولی سی اوپه دې باندې احنافو هم فتوٰی ورکړيده ([3]) (بلا نکاح ددوهم سړي سره چې

([1]) ردالمحتار کتاب المفقود ج ص ۴۵۸. ط. س. ج۴ ص ۲۹۷. ظفير

([2]) کله چې دوه کاله وروسته دخاوند خط راغی نوده ته به مفقود نه ويل کيږي له دې امله دوهمه نکاح جائز نه ده: اما نکاح منکوحة الغير ومعتدته الخ لم يقل احد بجوازه فلم ينعقد اصلا (ردالمحتار باب العدة ج۲ ص ۸۳۵. ط. س. ج۳ ص۵۱۲). ظفير

([3]) ولا يفرق بينه وبينها ولو بعد مضی اربع سنين خلافا لمالك (درمختار) فان عنده تعتد زوجة المفقود عدة =

تر کمه پوری هغه په حرام کاری کی اخته وه ددی ځخه دی توبه وکاږی، البته اوس دواده کولو ځخه وروسته ددی اوسیدل به ورسره جائز وی. ظفیر). فقط

لس کاله یی دخاوند انتظاروکی ښځی دوهم واده وکی اوس اولنی خاوندراغی څه حکم دی:

سوال: (۱۰۰۹) زید خپل واده وکی اودواده ځخه وروسته دری کاله هغه بل وطن ته ولاړی اوترلسو کالو پوری دده څه درك ونه لګیدی وروسته دزید ښځی دوهمه نکاح وکړه او اوس زید دولس کاله وروسته بیرته راغی اوپه مسماة مذکوره دعوٰی کوی نو دا دعوٰی دده جائز ده اوکه نه؟

جواب: دادعوٰی دده صحیح اوجائز ده اوهغه ښځه به خاوند اول ته ورکول کیږی، ځکه چی خاوند ددې که چیري مفقود الخبر نه وو نو هغه دوهمه نکاح باطله سوه اوکه چیري مفقود الخبر وو نو په مفقود کی همدا حکم دی چی که چیري هغه بیرته راسی نو دده ښځه به هم ده ته ورکول کیږی کما فی الدرالمختار قال ثم بعد رقمه رایت المرحوم ابا السعود نقله عن الشیخ شاهین ونقل ان زوجة له والاولاد للثانی، کتاب المفقود شامی ج۳ ص۳۳۲. (۱)

دمفقود په زوجه کی دقاضی دفیصلې بحث: **سوال**: (۱۰۱۰) تاسی دمفقود په مسئله کی دښځی دمفقود دقاضی دفیصلی ذکر ونه فرمایئ؟

جواب: دمفقود الخبر دزوجی په باره کی دامام مالك دمذهب موافق بنده دتفریق دقاضی او دقضاء دقاضی ذکر ددی وجه ځخه ونه کی چی داثابته ده چی دکم امام مذهب واخیستل سی نو ددی امام په دی باره کی چی کم مذهب وی دا اخیستل په کاردی نو بنده چی په دی باره کی کتابونه دفقه مالکیه وکتل نو ددوی په کتابونو کی داتفصیل دی چی: فصل لذکر المفقود واقسامه الاربعة: ولزوجة المفقود الرفع للقاضی والوالی ووالی الماء والا فلجماعة المسلمین فیؤجل الحر اربع سنین ثم اعتدت کالوفاة ولا یحتاج فیها لاذن من الحاکم والا یوجد احد منهم فلجماعة المسلمین من صالحی بلدها الخ شرح الخلاصة الدردیة علی مختصرالشیخ الخلیل فی الفقه للامام المالك رحمه الله، اوشاید هم داوجه ده چی شامی دامام مالك دمذهب په تشریح کی دا لیکلی دی: قوله خلافا لمالك فان عنده تعتدزوجة المفقود عدة الوفاة بعد مضی اربع سینن ومذهب الشافعی القدیم (۲) ج۳ ص۳۳۰، نوکه دقاضی تفریق پیدا سی نو ډیره ښه ده بیابه څه

= الوفاة بعد مضی اربع سنین الخ قال في البزازیة الفتوٰی في زماننا علی قول مالك (ردالمحتار کتاب المفقود مطلب في الافتاء بمذهب مالك في زوجة المفقود ج۳ ص۴۵۲. ط. س. ج۴ ص۲۹۵). ظفیر

(۱) ردالمحتار کتاب المفقود تحت قوله فان ظهر قبله ج۳ ص ۴۵۸. ط. س. ج۳ ص ۲۹۷. ظفیر　　=

سوچ نه وی (دصاحب هدایه په عبارت کي چی دادي: وقال مالك اذا مضی اربع سنین یفرق القاضی بینه وبین امرأته [۱] الخ، نو دهدایی مطلب دا کیدی سی چی قاضی موجود وی نو هغه به دجدایی حکم ورکړی ددی دپاره چی څه شك پاته نه سی). فقط

دچا خاوند چی غائب دی هغه څه وکړی؟ سوال: (۱۰۱۱) دیوی انجلی خاوند داتو کالو څخه غائب دی سره ددی دپلټنی څخه دده څه پته ونه لګیده اوانجلی په دی وخت کی ځوانه ده نوکه چیري ددی واده په بل ځای کی ونه کړی نوقوی احتمال دزنا دی چی هغه انجلی خپلي مور ته کنایةً اواشارةً اظهار کوی نو په دی صورت کی ددی انجلی دوهمه نکاح جائز ده اوکه نه؟

جواب: دمفقود الخبر دښځی په باره کی احنافو دامام مالك ﷫ پر قول فتوٰی ورکړیده چی دڅلورو کالو څخه وروسته دمفقود زوجه دده دنکاح څخه خارجه کړی او چی عده دوفات پوره کړی نو ددوهمی نکاح کولو اجازه ورکوی، کما فی الشامی عن القهستانی لو افتی فی مواضع الضرورة لاباس به الخ [۲]. فقط

دمفقود الخبر دښځی ددوهم واده دپاره دقاضی قضاء ضروری ده: سوال: (۱۰۱۲/۱۱) دمفقود زوجه که چیري په مذهب دامام مالك څلور کاله وروسته دوهمه نکاح کول غواړی نو دینه دقاضی دتفریق ضرورت سته اوکه نه؟ نوکه چیري دقاضی تفریق ته ضرورت سته نو ددی څه دلیل دی؟ اوکه چیري دقاضی تفریق ته ضرورت نسته نو دلاندینی عبارت څه مطلب دی چی دهغه څخه دقاضی تفریق ضروری معلومیږی: ولا یفرق بینه وبین امراته [۳]، هدایه، ولایفرق بینه وبینها ولو بعد مضی اربع [۴] سنین، درمختار، قال مالك اذا مضی اربع سنین یفرق القاضی بینه وبین امراته وتعتد عدة الوفات ثم تزوجت من شآءت لان عمر ﷺ هکذا قضٰی الخ [۵]، لایفرق بینه وبین امراته وحکم بموته بمضی تسعین سنة وعلیه الفتوٰی عالمګیریه [۶]، انه انما یحکم بموته بقضاء لانه امر محتمل فما لم ینضم الیه القضاء لایکون حجة [۷] درمختار، ان هذاای ماروی عن ابی حنیفه من تفویض

---

(۲) ردالمحتار کتاب المفقود ج۳ ص ۴۵۶. ط. س. ج۳ ص۲۹۵. ظفیر
(۱) هدایه کتاب المفقود ج۲ ص۵۹۷. ظفیر
(۲) ردالمحتار کتاب المفقود ج۳ ص۴۵۶. ط. س. ج۳ ص۲۹۵. ظفیر
(۳) هدایه کتاب المفقود ج۲ ص۵۸۵. ظفیر
(۴) الدرالمختار علی هامش ردالمحتار کتاب المفقود ج۳ ص۴۵۶. ط. س. ج۳ ص۲۹۵. ظفیر
(۵) هدایه کتاب المفقود ج۲ ص۵۸۵ – ۵۸۶. ظفیر
(۶) عالمګیری کتاب المفقود. ظفیر
(۷) الدرالمختار علی هامش ردالمحتار کتاب المفقود ج۳ ص ۴۵۸. ط. س. ج۳ ص ۲۹۷. ظفیر

موته الی رأی القاضی نص علی انه انما یحکم بموته بقضاء شامی (١).

(۲) که چیري تفریق ضروری دی نو په دی ملك کی څوك تفریق کولی سی؟ ځکه چی دحاکم دوخت یعني دنصاری دطرف څخه څه قاضی مقرر نه دی، اودمسلمانانو درضا مندی اوپه اتفاق سره هم چاته منصب دقضاء نه دی ورکول سوی نوبیا دجداوالی څه صورت دی؟

جواب: ۱ - ۲: داحنافو دقواعدو او دتصریحاتو موافق دقاضی تفریق ضروری دی لکه څنګه چی دهدایې وغیره څخه معلومیږی لیکن که چیري دا وویل سی چی کله دامام مالك مذهب په دی باره کی واخیستل سی نو ددوی دکتابونو څخه معلومیږی چی اول تاجیل څلور کاله وخت دتاجیل دقاضی یا دوالی یا دعام مسلمانانو ضرورت دی، بیا وروسته دتیریدلو دڅلور کالو څخه چي ښځه دمفقود خپله عده دوفات پوره کړی نو دوهمه نکاح کولی سی کذا صرح به فی کتب الفقه المالکیة، اوظاهر عبارت دشامی ددی مقتضی دی، کما قال فی شرح قوله خلافا لمالك فان عنده تعتد زوجة المفقود عدة الوفاة بعد مضی اربع سنین الخ (۲) وفی شرح الخلاصة في فقه الامام مالك: ولزوجة المفقود الرفع للقاضی والوالی ووالی الماء والا فلجماعة المسلمین فیؤجل اربع سنین ثم اعتدت کالوفاة ولا یحتاج فیها لاذن من الحاکم (۳). فقط

دمفقود زوجه به څلور کاله انتظار دقاضی په حکم سره کوی، نو بیابه دقضاء ضرورت وی اوکه نه؟

سوال: (۱۰۱۳) صاحب دهدایی دامام مالك مذهب په باره دتفریق دښځی دمفقود کی په دي الفاظو سره لیکلی دی: قال مالك اذا مضی اربع سنین یفرق القاضی بینه وبین امراته وتعتد عدة الوفات ثم تزوجت من شاءت (۴)، دهغه څخه معلومیږی چی دڅلورو کالو تیریدو څخه وروسته تفریق ضروری دی اوعبارت دشامی: فان عنده تعتد زوجة المفقود عدة الوفات بعد مضی اربع سنین (۵)، ددی تقاضاداده چی نه دتربص اربع سنین دپاره حکم دقاضی ضروری دی اونه څلور کاله وروسته دتفریق دقاضی حاجت دی نوپه دی دواړو کی کم یو قول دفقه مالکیه موافق دی کمی ښځی ته چی دتاجیل داربع سنین حکم دکم قاضی څخه حاصل سوی نه وی وروسته دتیریدلو دڅلوروکالوڅخه ددی تفریق ضروری دی اوکه نه؟

---

(۱) ردالمحتار کتاب المفقود ص۴۵۸. ط. س. ج۳ ص۲۹۷. ظفیر
(۲) ایضا ج۳ ص۴۵۶. ط. س. ج۳ ص ۲۹۵. ظفیر
(۳) شرح الخلاصة. ظفیر
(۴) هدایه کتاب المفقود ج۲ ص ۵۸۵. ظفیر
(۵) ردالمحتار کتاب المفقود ج۳ ص۴۵۶. ط. س. ج۳ ص ۲۵۵. ظفیر

جواب: دا لکه څنګه چې تاسو دصاحب دهدایې اودشامی څخه نقل کړیدی په دی دواړو کتابونو کی یې داسی لیکلی دی اوپه شرح دفقه مالکیه کی یې داتصریح فرمایلی ده چی دتاجیل دقاضی اودوالی او دعامو مسلمانانو څخه وروسته دتفریق دقاضي او نورو ضرورت نسته، او دبنده په فکر په دي زمانه کي دشرعي قاضي دنیستوالي په سبب دمالکي فقهاوو دتصریح موافق دعامو مسلمانانو تأجیل او تفریق کافي دی او دهدایې دقول تاویل داسي ممکن دی: یفرق القاضي الخ ای إن کان وإلا یکفي تاجیل غیر القاضي ایضا ولا حاجة إلی التفریق بعده. [1]

دڅلورو کلونو څخه وروسته قاضي دمفقود دښځې دویم واده وکی تردې وروسته چې لومړی زوج راسي نو ښځه به دهغه ګڼل کیږي: **سوال**: (۱۰۱۴) دیوي ښځي میړه نادرکه سو دڅلورو کلونو څخه وروسته قاضي دهغه دمړیني دحکم په لګولو سره دڅلور میاشتي او لس ووځي عدی څخه وروسته دهغي دویمه نکاح وکړه څو ورځي وروسته لومړنی میړه راغی نو دویمه نکاح صحیح سوه اوکه نه؟ او اوس دغه ښځه دچا ښځه ګڼل کیږي، قاضي ته په دي اړه څه ډول فیصله کول ښایي؟

جواب: دا دویمه نکاح خو صحیح سوه، او هغه اولاد چي ددي نکاح څخه پیدا سو هغه ولد الحلال دی لیکن داول میړه دراتګ څخه وروسته هغه ښځه داول میړه کیږي: کما في الشامي أن زوجة له والأولاد للثاني الخ ردالمحتار جلد ثالث کتاب المفقود. [2]

دمفقود الخبر دمال ویش به څه وخت کیږي: **سوال**: (۱۰۱۵) دمفقود مال دهغه وارث کله تقسیمولای سي؟

جواب: کله چي دمفقود عمر دومره سي چي دهغه همزولي مړه سي په دي وخت کي دي دهغه موجود وارثان دهغه مال تقییم کړي. [3]

دمفقود الخبر ښځه په اوسني وخت کی کله دویمه نکاح وکړي؟ **سوال**: (۱۰۱۶) که دکمي ښځي میړه دخپل وطن څخه مفقود الخبر سي نو دڅومره وخت څخه وروسته دا ښځه په اوسنی زمانه کي ددین دعالمانو په نزد ددویم سړي سره نکاح کولای سي؟

جواب: دمفقود الخبر ښځه چي کله دڅلورو کلونو څخه وروسته دوفات عدت پوره کړي نو دامام مالك رحمه الله دمذهب موافق دویمه نکاح کولای سي ، پر دي باندي دحنفیانو هم

---

[1] په دي مسئله کي دتحقیق دپاره وګوری: الحیلة الناجزة بحث مفقود، والله اعلم. ظفیر

[2] ردالمحتار کتاب المفقودج۳ ص۴۵۸. ط. س. ج۳ ص۲۹۷. ظفیر

[3] وبعده یحکم بموته في حق ماله یوم علم ذلك ای موت اقرانه فتعتد منه عرسه للموت ویقسم ماله بین من یرثه الآن (الدر المختار علی هامش ردالمحتار کتاب المفقودج۳ ص۴۵۸، ط.س. ج۳ ص۳۹۸. ظفیر

فتوی ده. (۱)

دمفقود الخبر دکم عمر اعتبار وکړل سي؟ سوال: (۱۰۱۷) دواعظ علي پلار ظهير الدين دشل کلنۍ په عمر په ۱۸۷۴ م کال کي مفقود سو، چي تر اوسه يې دوه څلويښت کاله وتلي دي، له هغه وخته رانيولي تر دي وخته دهغه خبر نه دی معلوم سوی چي مړ دی اوکه ژوندی، او اوس دهغه عمر دوه شپيته کاله کيږي، شرعًا دهغه دمرګ او ژوند په اړوند څه حکم دی؟ دمرګ حکم څه وخت ورکول کيږي؟

جواب: متاخرينو عالمانو دشپيتو کلونو عمر معتبر کړی دی چي تردي وروسته دي دمرګ حکم وکړل سي او ابن الهمام ﷫ اويا کاله عمر غوره کړی دی کذا في الشامي (۲) نو اوس چي دمفقود دوه شپيته کاله عمر سوی دی که دمرګ حکم ورکړل سي او دهغه موروثه په وارثانو تقسيم کړل سي نو دا به صحيح وي. (۳)

ميره دشلو کلونو راهيسي مفقود الخبر دی ښځه يې نکاح کولای سی او که نه؟ سوال: (۱۰۱۸) ديوي انجلی واده په کشري کي وسو او ميړه يې ددې څخه دوه کاله وروسته يوځای ولاړی چي تر اوسه پوري مفقود الخبر دی، شل کلونه تير سوي دي نه دهغه ليك راغلی دی او نه يې سره دپلټني کولو څه درك لګيدلي دی که انجلی بل ځای نکاح کول وغواړي نو شرعًا جواز لري اوکه نه؟

جواب: په دي حالت کي دهغي دويمه نکاح صحيح ده، لکه څنګه چي دشامي څخه نقل سوه. (۴)

څوک چي تر لسو کلونو پوري مفقود الخبر واوسي دهغه دښځي دوهمه نکاح جائزده اوکه نه؟ سوال: (۱۰۱۹) يوه سړي واده وکی او يوبل ځای ولاړی، او تر لسو کلونو پوري مفقود الخبر واوسيدی لس کاله وروسته دانجلۍ وارثانو دانجلۍ واده دبل سړي سره

---

(۱) خلافا للمالك فان عنده تعتد زوجة المفقود عدة الوفاة بعد مضی اربع سنين الخ وقد قال في البزازية الفتوی في زماننا علی قول مالك (رد المحتار کتاب المفقود مطلب في الإفتاء بمذهب مالك ج۳ ص ۴۵۲. ط س. ج۳ ص ۲۹۵). ظفير

(۲) واختار المتأخرون ستين سنة واختار ابن الهمام سبعين لقوله عليه الصلوة والسلام اعمار امتي مابين الستين إلی السبعين (ردالمحتار کتاب المفقود ج۳ ص۴۵۷. ط. س. ج۳ ص۲۹۲). ظفير

(۳) وبعده يحکم بموته في حق ماله يوم علم ذلك أی موت اقرانه فتعتد منه عرسه للموت ويقسم ماله بين من يرثه الآن (الدر المختار علی هامش ردالمحتار کتاب المفقود ج۳ ص ۴۵۸). ظفير

(۴) خلافا للمالك فان عنده تعتد زوجة المفقود عدة الوفاة بعد مضی اربع سنين الخ وقد قال في البزازية الفتوی في زماننا علی قول مالك (رد المحتار کتاب المفقود مطلب في الإفتاء بمذهب مالك ج۳ ص ۴۵۲. ط س. ج۳ ص ۲۹۵)، دتفصيل دپاره الحيلة الناجزة للتهانوي وګوری. ظفير

وكى څو ورځي وروسته دانجلۍ لومړنى ميړه راغى او دعوه يي وكړه، په عدالت كى يې چاره ولټوله خو دعوه يې خارجه سوه، او هغه بيا بي له طلاق وركولو بل ځاى ته ولاړى، اوس دانجلۍ په هكله څه حكم دى، قومي جرګې پورته ذكر سوي نكاح دشرعي خلاف وبلله او دانجلۍ دوارثانو څخه يې اړيې پرېكړي.

جواب: دمفقود الخبر دښځي چي دلسو كلونو څخه وروسته كمه نكاح سوي وه هغه صحيح وه، ليكن كم وخت چي لومړنى ميړه بيرته راغلى وو هغه ښځه شرعًا بيرته دهغه سره يوځاى كول په كار وو، او كمه نكاح چي سوي وه هغه فسخ سوه اوس كه هغه سړى بيا يوځاى تللى وي او نادركه وي نو له څلورو كلونو وروسته دي دوفات عدت پوره كړي تردي وروسته ښځه دويمه نكاح كولاى سي، لس كاله وروسته چي هغي ښځي كمه نكاح كړي وه هغه دشرعي څخه خلاف نه وه نو ځكه دهغې سره دتعلق دپريكولو هيڅ وجه نسته، پكار ده چي جوړجاړى سره وكړي.

<u>دچا ميړه ته چي ددائمي حبس سزا وركړل سي دهغې حكم</u>: **سوال**: (۱۰۲۰) يو ميړه چي دلسو پنځلسو كلونو راهيسي مفقود الخبر دى، او يا هغه سړى چي هغه ته ددريايي شور يا ددائمي حبس سزا وركړل سي دهغه ښځه دويم عقد كولاى سي اوكه نه؟

جواب: دمفقود الخبر بل حكم دى او چاته چي ددريايي شور سزا وركړل سي هغه مفقود الخبر نه دى او دهغه ښځه دهغه په ژوند كي دويم عقد نه سي كولى او مفقود الخبر هغه دى چي دهغه نښه او نښانه، مرګ او ژوند هيڅ نه وي معلوم (۱) هغه ته پريوه ټاكلي وخت شرعًا دمرګ حكم وركول كيږي.

<u>ميړه دنهو كلونو راهيسي په پلټن نومي ځاى كي دى هيڅ خبر نه اخلي، نو ښځه يې څه وكړي</u>؟ **سوال**: (۱۰۲۱) يو سړى دنهو كلونو راهيسي نكاح كړيده اوپه پلټن كي نوكر سوى دى، او په دي موده كي يې خپلي ښځي ته نه خرڅ راليږلى دى او دښځي قريبانو چي كم ليكونه وراستولي دى نه يې دهغو جواب راليږلى دى، په دي اړه مولوي ثناء الله دا مسئله ليكلي ده چي دڅلورو كلونو څخه وروسته دښځي دويمه نكاح جائزه ده، دا صحيح ده اوكه نه؟

جواب: دا سړى چي په سوال ذكر سوى دى مفقود الخبر نه دى، په دي صورت كي دهغه ښځه دويمه نكاح نه سي كولاى او دهغه ښځه دده څخه نه سي بيليداى دلومړي ميړه دطلاق وركولو پرته دويمه نكاح نه صحيح كيږي، او مولوي ثناء الله صاحب چي څه

(۱) وهو لغة المعدوم وشرعا غائب لم يدر أحي هو فيتوقع قدومه أم ميت الخ (الدر المختار على هامش ردالمحتار كتاب المفقود ج۳ ص ۴۵۳. ط. س. ج۴ ص ۲۹۲). ظفير

ليکلي دي هغه دمفقود الخبر دښځي مسئله ده، دديوبند عالمانو او نورو دمفقود الخبر دښځي په اړوند بي شکه دامام مالك رحمه الله دمذهب موافق فتوی ورکړيده، چي ترڅلورو کلونو وروسته دهغه ښځه دوفات دعدت په پوره کولو سره دويمه نکاح کولای سي، خو هغه دا مسئله نه ده کمه چي په سوال کي ده. (۱)

دمفقود الخبر ښځه دقاضي دقضا څخه پرته دويم واده نه سي کولای: **سوال**: (۱۰۲۲) زيد داتو کلونو راهيسي مفقود الخبر اونادرکه دی دهغه ښځي دقاضي دتفريق څخه پرته ددويم سړي سره دنکاح عقد وکی، کله چي عالمان خبر سول نو هغې ته يې خبر ورکی چي دهغه څخه دي بيله سي، اوس پرذکر سوي ښځه باندي دزنا دارتکاب بيره ده، په دي صورت کي دامام مالك رحمه الله پرمذهب دفتوی په موجب چي څلورکاله موده ده او دقاضي تفريق شرط دی نو دغه ښځه غواړي چي يوه عالم ته مسئله وړاندي کړي او دتفريق دحکم په کولو سره ددويمي نکاح جازت ورکړل سي، په دې معامله کي دوې خبري دپوښتلو دي: يوه دا چي په داسي حالت کي دضرووت په وخت کي عالم دقاضي قائم مقام کيدی سي اوکه نه؟ او دويم دا چي دعالم تفريق لکه دقاضي تفريق داسي دی اوکه نه؟

جواب: دمفقود الخبر دښځي په اړه مأخوذ او معمول به دامام مالك رحمه الله مذهب دی چي دڅلورو کلونو څخه وروسته دي دمفقود ښځه دوفات عدت تيره کړي او دويمه نکاح دي وکړي، لکه څنګه چي دشامي عبارت دی: قوله خلافا لمالك فان عنده تعتد زوجة المفقود عدة الوفاة بعد مضی اربع سنين الخ (۲) ددي عبارت څخه واضحه سوه چي دڅلورو کلونو ترتيريدو وروسته چي دمفقود ښځه دوفات عدت پوره کړي نو دتفريق ضرورت به نه وي، نو دڅلورو کلونو دتيرولو څخه دتفريق په اراده باندي عدت تيرول کافي دي، ليکن دامام مالك رحمه الله دمذهب دکتابونو څخه څرګنديږي چي تفريق کول ښايي او تفريق کوونکی که قاضي نه وي نو دمسلمانانو ديندار ه ټولنه هم کافي ده. (۳)

دمفقود الخبر سره تړلي حکمونه: **سوال**: (۱۰۲۳) دمفقود الخبر ميړه ميعاد په شرع شريفه کي څومره دی او ترڅو پوري دی؟ دهغه متروکه مال په څه ډول تقسيم کړل سي؟

جواب: دمفقود الخبر دښځي په نکاح کي حنفيانو دامام مالك رحمه الله قول اختيار کړی دی

(۱) ايضا. ظفير

(۲) رد المحتار کتاب المفقود مطلب في الإفتاء بمذهب مالك ج۳ ص۴۵۲. ط. س. ج۴ ص ۲۹۵. ظفير

(۳) دتفصيل دپاره وګورئ: الحيلة الناجزة للتهانوي. ظفير

چي وروسته دڅلورو کلونو څخه چي دهغه ښځه دوفات عدت يعني څلور مياشتي او لس ورځي تيري کړي نو بيا بل واده کولای سي، همدا ډول په شامي کي دي ([1]) او دمفقود دميراث دتقسيم په اړه دحنفيانو په اصلي مذهب باندي عمل کول په کار دي او دحنفيانو اصلي مذهب په دي باره کي دا دی چي کله دهغه همزولي مړه سي په هغه وخت کي مفقود ته دمرګ حکم ورکول کيږي ([2]) او ددي اندازه نوي ۹۰ کاله ټاکل سويده او په دي کي نور اقوال هم سته چي دفقهي دکتابونو څخه معلوميږي.

پنځلسم باب : دعدت سره تړلي حکمونه او مسئلې

دنابالغ ښځه چي دهغې سره نه خلوت سوی وي او نه وطی پرهغې باندي عدت نسته: سوال: (۱۰۲۴) زيد په ماشومتوب کي ديوې انجلۍ سره نکاح وکړه او دوطی اوخلوت څخه پرته يې طلاق ورکی نو عدت تيرول ضروري دي اوکه نه؟ او دا طلاق وروسته دبلوغ څخه دی؟

جواب: که وطی او خلوت نه وي سوی نو عدت لازم نه دی. قال الله تعالی: وإن طلقتموهن من قبل أن تمسوهن فما لكم عليهن من عدة تعتدونها، الآية ([3]).

دکمي ښځي دحيض عادت چي اته ورځي وي دهغې دعدت ورځي لږ تر لږه ۵۴ ورځي کيږي: سوال: (۱۰۲۵) دکمي ښځي دحيض عادت چي اته ورځي وي دهغې ښځي دطلاقيدو بعد څلويښت ورځي وروسته نکاح کول جائز دي اوکه نه؟

جواب: په څلويښتو ورځو کي دهغې عده نه سوه ختمه بلکه لږ تر لږه به دهغې عده ۵۴ ورځي وي اوپه عدت کي نکاح باطله ده، قال الله تعالی (ولا تعزموا عقدة النكاح حتى يبلغ الكتاب أجله)، الآية. ([4])

دنابالغ ميړه دخلوت څخه هم عدت لازمه ده: سوال: (۱۰۲۶) ديوي نابالغي انجلۍ نکاح دهغې پلار ديوه نابالغ هلك سره وکړه اوس دانجلۍ ميړه هغې ته طلاق ورکړی دی اوس دانجلۍ نکاح بل ځای کيږي اوکه نه؟ او عدت په دي صورت کي واجب دی اوکه نه؟

([1]) خلافا للمالك فان عنده تعتد زوجة المفقود عدة الوفاة بعد مضى اربع سنين الخ وقد قال في البزازية الفتوى في زماننا على قول مالك (رد المحتار كتاب المفقود مطلب في الإفتاء بمذهب مالك ج۳ ص ۴۵۲. ط س. ج۳ ص ۲۹۵)، دتفصيل دپاره الحيلة الناجزة للتهانوي وګوری. ظفير

([2]) وبعده يحكم بموته في حق ماله يوم علم ذلك أى موت اقرانه فتعتد منه عرسه للموت ويقسم ماله بين من يرثه الآن (الدر المختار على هامش ردالمحتار كتاب المفقود ج۳ ص ۴۵۸. ط.س. ج۳ ص۲۹۸). ظفير

([3]) سورة البقرة. ظفير

([4]) سورة البقرة، وأما نكاح منكوحة الغير ومعتدته الخ لم يقل بجوازه فلم ينعقد اصلا (ردالمحتار باب المهر ج۲ ص ۴۸۲). ظفير

جواب: كه ددي ميړه دبلوغ څخه وروسته خپلي ښځي ته طلاق ورکړی وي نو طلاق واقع سو (۱) اوكه يې دميړه سره خلوت سوی وي اگر كه دعدم بلوغ په حالت كي وي نو عدت بيا هم لازم دی وروسته له عدت څخه دويمه نكاح كولای سي: وتجب العدة بخلوته أي الصبی وإن كانت فاسدة الخ شامي. (۲)

ميړه دخلوته پرته مړ سو نو پر ښځه باندي دوفات عده لازمه ده: سوال: (۱۰۲۷) يوه سړي دنابالغي انجلۍ سره نكاح وكړه او ميړه له خلوته پرته مړ سو په دي صورت كي پرذكر سوي ميرمن عدت سته اوكه نه؟

جواب: په دي صورت كي پرذكر سوي ميرمن عدت لازم دی او دهغي عدت څلور مياشتي او لس ورځي دی: كما قال الله تعالى: والذين يتوفون منكم ويذرون ازواجا يتربصن بأنفسهن اربعة أشهر وعشرا، الآية (۳) وفي الدرالمختار والعدة للموت اربعة أشهر وعشرة الخ مطلقا وطئت اولا لو صغيرة الخ (۴).

دحمل ډيره موده دوه كاله ده ددي څخه وروسته شرعًا اعتبار نه لري، عدت دری حيضه دي:

سوال: (۱۰۲۸) ديوي ښځي حمل وچ سو كه دا حمل تر پنځو شپږو كلونو په گيډه كي واوسيږي نو دهغي عدت به ترڅه وخته وي، څومره وخت وروسته دا ښځه نكاح كولای سي؟

جواب: شرعًا حمل تر دوو كلونو ډير نه اوسيږي، (۵) ځكه نو ذكر سوي ښځه شرعًا حامله نه گڼل كيږي، بلكه هغه ممتدة الطهر ده، نوكه هغه مطلقه وي دهغي عدت په دريو حيضونو سره پوره كيږي كه په هر څومره موده كي دری حيضه پوره سوه اوكه دهغې ميړه وفات سوی وي نودهغي عدت په څلورو مياشتو اولسو ورځو سوه پوره كيږي. (۶)

مطلقه دعدت څخه وروسته نكاح كولای سي: سوال: (۱۰۲۹) زيد خپلي ښځي ته طلاق وركی اوس بكر غواړي چي دهغه ښځه په خپله نكاح كي راولي نو ايا هغه يی اوس اوس په نكاح كي راوستلای سي اوكه نه؟ آيا څومره ورځي به عدت تيرول اړين وي؟

---

(۱) دنابالغ ميړه طلاق نه واقع كيږي: ولا يقع طلاق الصبی والمجنون (هدايه كتاب الطلاق ج۲ ص۳۳۷). ظفير
(۲) ردالمحتار باب المهر ج۲ ص۴۲۲. ط. س. ج۳ ص۱۱۴. ظفير
(۳) سورة البقرة. ظفير
(۴) الدر المختار على هامش ردالمحتار باب العدة ج ۲ ص۸۳۰. ط. لس. ج۳ ص ۵۱۰. ظفير
(۵) واكثر مدة الحمل سنتان لقول عائشة رضي الله عنها : الولد لا يبقى في البطن اكثر من سنتين ولو بظل مغزل (هدايه باب ثبوت النسب ج۲ ص۴۱۲). ظفير
(۶) وإذا طلق الرجل امرأته طلاقا بائنا الخ وهی حرة ممن تحيض فعدتها ثلثة اقراء الخ وإن كانت حاملا فعدتها أن تضع حملها الخ وعدة الحرة في الوفاة اربعة اشهر وعشرا الخ (هدايه باب العدة ج۱ ص۴۰۱ – ۴۰۲). ظفير

جواب: دطلاق عدت درى حيضه دي، اوكمي ښځي ته چي حيض نه ورځي نوبيا درى مياشتي دى نو دطلاق دوخته څخه ددريو حيضو دتيريدلو څخه وروسته بكر ورسره نكاح كولاى سي، ددې څخه مخكي يې نه سى كولاى (۱) الله ﷻ فرمايلي دي: ولا تعزموا عقدة النكاح حتى يبلغ الكتاب أجله، الآية. (۲)

دخلعي هغه عدت دى چي دطلاق عدت دى: **سوال**: (۱۰۳۰) دخلعي عدت څه دى، يوي ښځي دخلعي څخه يوه مياشت وروسته نكاح كړيده آيا هغه جائز ده؟

جواب: دخلعي عدت هغه دى كم چي دطلاق عدت دى يعني درى پوره حيضه، او دحيض دنه راتلو په صورت كي درى مياشتي نو دخلعي څخه يوه مياشت وروسته چي كمه نكاح سويده هغه باطله ده، كما في الدرالمختار وهى في حق حرة تحيض لطلاق او فسخ بجميع اسبابه الخ ثلثة حيض كوامل الخ باب العدة (۳) وفي باب الخلع منه وحكمه أن الواقع به الخ طلاق بائن. (۴)

عدت دطلاقنامې دليكلو دوخت څخه شمېرل كيږي: **سوال**: (۱۰۳۱) زيد خپلي ښځي هندي ته تحريري طلاقنامه وليكله هندي ته دطلاق خبر په هغه وخت كي رسيدلى وو خو دطلاق ليك يې دجمادي الثاني په ۱۲ تر لاسه كى، دپوښتني خبره داده چي دهغې عدت دكمه وخته څخه شميرل كيږي او دعدت موده څومره ده؟

جواب: له كمه وخته چي زيد طلاقنامه ليكلي ده، له هغه وخته څخه پرهنده باندي طلاق واقع سوى دى، او دطلاق عدت درى حيضه ده اوكه حيض نه ورته راځي نو بيا درى مياشتي دي، نوكه دليكني دوخت څخه دهندي درى حيضه تير سوي وي نو دهغې عدت پوره سوى دى اوكه درى حيضه هم نه وي پوره سوي نو هغه دي پوره كړل سي ترهغه وروسته هندي ته دويمه نكاح كول صحيح دي. (۵)

دوفات عدت څلور مياشتي او لس ورځي دي: **سوال**: (۱۰۳۲) ديوي ښځي ميړه دڅو ورځو راهيسي مسافر وو اوپه سفر كي وفات سو دهغه ښځه نكاح كول غواړي نو دهغې عدت

---

(۱) وهى في حق حرة الخ تحيض لطلاق الخ او فسخ بجميع اسبابه الخ ثلثة حيض كوامل (الدر المختار على هامش ردالمحتار باب العدة ج۲ ص ۸۲۵، ط. س. ج۳ ص۵۰۴)، وأما نكاح منكوحة الغير ومعتدته الخ لم يقل أحد بجوازه (رد المحتار باب العدة ج۲ ص ۸۳۵. ط. س. ج۳ ص۵۱۲). ظفير

(۲) سورة البقرة. ظفير

(۳) الدرالمختار على هامش ردالمحتار باب العدة ج۲ ص ۸۲۵. ط. س. ج۳ ص۴ ۵۰. ظفير

(۴) الدر المختار على هامش ردالمحتار باب الخلع ج۲ ص۷۷۰. ط. س. ج۳ ص۴۴۴. ظفير

(۵) وهى في حق حرة الخ تحيض لطلاق او فسخ بجميع اسبابه الخ ثلثة حيض كوامل الخ وفي حق من لم تحيض الخ ثلاثة اشهر (ايضا باب العدة ج۲ ص ۸۲۵. ط. س. ج۳ ص۵۰۴). ظفير

به څومره وي؟

جواب: دهغي عدت لس ورځي اوڅلور مياشتي دی دميړه دمرګ دوخت څخه چي کله څلورمياشتي اولس ورځي پوره سي هغه وخت دابنځه دويمه نکاح کولای سي. (۱)

درجعي طلاق عدت: **سوال**: (۱۰۳۳) درجعي طلاق عدت څومره دی آيا په دي طلاق کي دميړه له لوري رجوع هغه طلاق دمينځه وړي اوکه نه؟ او درجعي طلاق ازاله په کمو امورو سره ممکنه ده؟

جواب: درجعي طلاق عدت دری حيضه دي په درمختارکي ويلي دي: وهی في حق حرة تحيض لطلاق ولو رجعيا او فسخ بعد الدخول حقيقة او حکما ثلث حيض کوامل الخ (۲) او په رجعي طلاق کي په عدت کي رجوع صحيح ده او رجعت په قول او فعل سره لکه وطی، په شهوت سره مسه کول، مچول، او دفرج داخل ته کتل او نورو داسي کارونو سره صحيح ده او په قول سره رجعت کول مستحب دي: کما قال الشامي في باب الرجعة والمستحب أن يراجعها بالقول (۳) الخ وقال في الدرالمختار وتصح مع اکراه وهزل ولعب وخطأ بنحو راجعتك الخ. (۴)

تر پنځو کلونو پوري دحمل اوسيدل معتبر نه دي: **سوال**: (۱۰۳۴) يوه سړي خپلي ښځي ته دری طلاقه ورکړل او دهغي ښځي دپنځو کلونو راهيسي حمل دی او هغه سړی ددي مطلقي له وريري سره نکاح کول غواړي نو دهغې عدت دحمل په وضع سره دی اوکه په مياشتو دی او دهغي له وريرې سره څه وخت نکاح جائز ده؟

جواب: دحنفيانو په نزد ترپنځو شپږو کلونو پوري دحمل پاته کيدل معتبر نه دي ځکه چي دحنفيانو په نزد دحمل ډيره موده دوه کاله ده (۵) نو ديته حامله نه ويل کيږي ليکن دهغي عدت په مياشتو نه دی بلکه دری حيضه دی البته که دا ښځه داياس سن ته يعني پنځوسو يا پنځه پنځوسو کلونو ته رسيدلي وي نو بيا به ددي عدت په مياشتو وی، نو کله چي دا ښځه داياس سن ته نه ده رسيدلي نو ددريو حيضو دتيرولو څخه وروسته به ددي عدلت ختم سي (۶) او تر څو چي يې دری حيضه نه وي پوره سوي تر هغه وخته ددي

(۱) والعدة للموت اربعة اشهر الخ وعشرة الخ (الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب العدة ج۲ ص ۸۳۵. ط. س. ج۳ ص۵۱۰). ظفير

(۲) الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب العدة ج۲ ص۸۲۵. ط. س. ج۳ ص۵۵۴. ظفير

(۳) رد المحتار باب الرجعة ج۲ ص۷۲۹. ط. س. ج۳ ص۳۹۸. ظفير

(۴) الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب الرجعة ج۲ ص ۷۲۸. ط. س. ج۳ ص۳۹۸. ظفير

(۵) أکثر مدة الحمل سنتان واقلها ستة اشهر (الدر المختار علی هامش ردالمحتار فصل في ثبوت النسب ج۲ ص۸۵۷. ط.س. ج۳ ص۵۴۰). ظفير =

له وريرې سره نکاح کول صحيح نه دي. (۱)

ښځه په عدت کي يو ځاى ته تللاى سي اوکه نه؟ **سوال**: (۱۰۳۵) هغه ښځه چي ميړه يې مړ سوی وي يعني دښځي په عدت کي دننه دخپلو وروڼو يا والدينو کورته په يوه ښادي يا بل څه کي دشپي يا دورځي په يوه برخه کي تلل او بيرته په شپه کي خپل کورته راتلل جائز دي اوکه نه؟

جواب: دکمي ښځي چي ميړه وفات وي هغي ته چي فقهاؤ ددباندي وتلو اجازه دشپي يا دورځي په کمه برخه کي ورکړې دهغي وجه دنفقي ضرورت دی، که دا ضرورت نه وي نو بيا هغه لکه مطلقه داسي ده چي په عدت کي وتل، او يوځای تلل يې صحيح نه دي لکه څنګه چي په درمختارکي دي: حتی لو کان عندها کفايتها صارت کالمطلقة فلا يحل لها الخروج (فتح) (۲) او همدا ډول په شامي کي دفتح القدير څخه منقول دي، نو متوفی عنها زوجها ته په عدت کي دوروڼو يا والدينو کورته دښادي يا بل څه دپاره هروخت دورځي او شپي هيڅکله وتل صحيح نه دي.

دنامرد پرښځه باندي هم عدت سته که يې خلوت سوی وي: **سوال**: (۱۰۳۶) دنابالغ زيد واده دهغه مور او پلار ورته وکی کله چي دزيد عمر پنځه ويشت کاله سو نو دهغه ښځي ته څرګنده سوه چي دی له يوه مخه نامرد دی، پرښځه باندي قدرت نه لري او ډاکټر زيد ته داسي وويل چي ته نه جوړيږې همدا وو چي زيد خپلي ښځي ته طلاق ورکی نو اوس دزيد پرښځي دطلاق عدت سته اوکه نه؟

جواب: ظاهرا داسي معلوميږي چي دزيد دخپلي ښځي سره خلوت هرومرو سوی دی اګرکه صحبت نه دی سوی نوکه خلوت سوی وي دهغه پرښځه تر حلاله وروسته عدت تيرول واجب دي، عدت يې درې حيضه دي او دعدت څخه وروسته دويمه نکاح کولای سي. (۳)

دکافرې سره ترعدت وروسته نکاح کيدی سي: **سوال**: (۱۰۳۷) دمسلمان زيد دکافري هندي سره ډېره وخته ناجائزي اړيکي وي ، اوس هنده مسلمانه سويده او دذکر سوي مسلمان يعني زيد سره نکاح کول غواړي آيا دهغي عدت ته ضرورت سته اوکه نه؟

---

(۲) تحيض لطلاق ولو رجعيا الخ ثلث حيض کوامل (ايضا باب العدة ج۲ ص۸۲۵. ط. س. ج۳ ص۵۰۴ - ۵۰۵). ظفير

(۱) وحرم الجمع بين المحارم نکاحا ای عقدا صحيحا وعدة ولو من طلاق بائن (ايضا باب المحرمات ج۲ ص۳۹۰. ط. س. ج۳ ص۳۸). ظفير

(۲) الدر المختار على هامش ردالمحتار فصل في الحداد ج۲ ص۸۵۴. ط. س. ج۳ ص۵۳۶. ظفير

(۳) والخلوة بلا مرض احدهما الخ کالوطی ولو مجنونا او عنينا او خصيا وتجب العدة فيها أی تجب العدة على المطلقة بعد الخلوة احتياطا (البحر الرائق باب المهر ج۳ ص۱۵۵ ط.س. ج۳ ص۱۵۱). ظفير

جواب: دمسلمانیدو ځخه وروسته تردریو حیضو وروسته نکاح کولای سي، که هغه ښځه دکفر په حالت کي دچا په نکاح کي وه: ولو أسلم أحدهما ثمة الخ لم تبن حتي تحيض ثلاثا الخ. [۱]

دعدت تر پوره مخکي نقل مکاني يعني ځاي بدلول جائزدي اوکه نه؟ **سوال**: (۱۰۳۸) ديوه سړي مړينه په بهوپال کي وسوه نو دهغه ښځه دعدت تر پوره کيدو مخکي دلته راوستل کيدی سي اوکه نه؟

جواب: که هلته دعدت تر پوره کيدو پوري په اوسيدلو کي يوډول بيره او بي اطمناني نه وي او ټولي اړتياوي يې هلته پوره کيدی سي نو هلته يې عدت تيرول په کار دي دلته يې راوستل صحيح نه دي، او که هوري اطمينان نه وي او اړتياوي نه سي پوره کيدی نو خپل وطن ته راتللای سي په درمختارکي دي: او كانت في مصر او قرية تصلح للإقامة تعتد ثمه (درمختار) قوله تصلح للإقامة بأن تأمن فيها على نفسها ومالها وتجد ما تحتاجه الخ شامي [۲] (ترجمه او حاصل يې) يا که ښځه دميړه دمړيني په حالت کي په يو داسي کلي يا ښارکي وي چي داقامت وړتيا لري په داسي ډول چي ښځه هلته په امن وي دځان او دمال هيڅ بيره يي نه وي او اړتياوي پوره کولای سي نو هغه دي په هغه کلي يا ښارکي چي ميړه يې پکښي وفات سوی وو عدت تيره کړي.

دوفات ترعدت وروسته ښځي ته واده کول صحيح دي: **سوال**: (۱۰۳۹) ديوي ښځي ميړه مړ سو هغي ښځی ځلور مياشتي أو لس ورځي وروسته دبل سړي سره نکاح وکړه دا نکاح صحيح سوه اوکه نه؟

جواب: دا نکاح چي دميړه دمرګ ځخه ځلور مياشتي او لس ورځي وروسته سويده صحيح ده، ځکه چي دمتوفی عنها زوجها عدت ځلور مياشتي اولس ورځي ده ترهغه وروسته دويمه نکاح صحيح ده، قال الله تعالى: والذين يتوفون منكم ويذرون ازواجا يتربصن بأنفسهق اربعة اشهر وعشراً. [۳]

مطلقه ترعدت وروسته نکاح کولای سي: **سوال**: (۱۰۴۰) يوه سړي خپلي ښځي ته دری طلاقه ورکړل نو ښځه دعدته پرته دبل سړي سره نکاح کولای سي اوکه نه؟

جواب: کمي ښځي ته چي دهغې ميړه دری طلاقه ورکړي وي هغه ترعدت وروسته دبل سړي سره نکاح کولای سي اوکه خلوت او صحبت يوهم نه وي سوی بيا عدت تيرول لازم

---

[۱] الدر المختار على هامش ردالمحتار باب نكاح الكافر ج۲ ص۵۳۶ – ۵۳۷. ط. س. ج۳ ص۱۹۳. ظفير

[۲] رد المحتار فصل في الحداد ج۲ ص۸۵۲. ط. س. ج۳ ص۵۳۹. ظفير

[۳] سورة البقرة. رکوع: ۳۰. ظفير

نه دي ترطلاق وروسته فورا دويمه نکاح کولای سي. ([1])

چيري چي ميړه له نړۍ څخه سترګې پټې کړي وې هم هلته عدت تيرول په کار دي: سوال:

(۱۰۴۱) زيد مړسو دهغه ښځه په عدت کي ده او دزيد څخه پرته بل څوك دکار کوونکی نسته ايا په داسي صورت کي ښځه دعدت په موده کي يوبل کلي يا ښار ګوټي ته چي هلته ددي داړتياوو دپوره کيدلو ښه امکانات وي نقل کولای سي اوکه نه؟

جواب: په درمختار کي دي: وتعتدان أى معتدة طلاق وموت في بيت وجبت فيه ولا يتخرجان منه إلا أن تخرج او ينهدم المنزل الخ ([2]) ددي حاصل دا دی چي ښځي ته عدت تيرول په هغه کور کي په کار دي په کم کي چي پرهغې باندي عدت واجب سوی وي يعني په هغه کورکي چي دا دميړه دمرګ په مهال هوري وه او پکښي اوسيدله، مګر که دا کور دبل چا وو اوهغه دي ته هلته داوسيدلو لپاره اجازه نه ورکوله يا هغه کور ونړيدی او يا يې دنړيدو بيره وه الخ لنډه دا چي په موجوده حالت کي هغي ښځي ته هلته عدت تيرول په کار دي او دهغې دضرورت شيان هلته ورپوره کول په کار دي.

واده سوی کافره ښځه دي دمسلمانيدو څخه وروسته ددويم مسلمان سره له عدته وروسته نکاح وکړي: سوال: (۱۰۴۲) ديوې هندي مسلماني سوي ښځي که ميړه اسلام قبول نه کړي نو هغه ديوه بل مسلمان سره نکاح کولای سي اوکه نه او دهغې لپاره دعدت په اړه څه حکم دی؟

جواب: په درمختارکي ويلي دي: ولو اسلم احدهما ثمه أى في دار الحرب الخ لم تبن حتى تحيض ثلاثا الخ ([3]) ددي عبارت څخه ښکاري سوه چي لومړی ددريو حيضو تيرولو څخه وروسته هغه ښځه دويمه نکاح کولای سي او دکمي ښځي چي حيض نه راځي دهغي لپاره دری مياشتي ددريو حيضونو پرځای ټاکل سوي دي.

دوفات عدت پرهر حال ضروري ده ميړه اوښځه دواړه نابالغ وي او که يو ددوی څخه: سوال:

(۱۰۴۳) ميړه هم نابالغ دی او ښځه هم او يا ميړه بالغ دی او ښځه نابالغه ده په دي دواړو صورتونو کي که ميړه مړ سي نو عدت لازميږي أو که نه؟

جواب: دمرګ عدت په هرحال کي څلور مياشتي او لس ورځي دی که په ښځه او ميړه کي يو بالغ وي اوکه نه وي. ([4])

([1]) اربع من النساء لا عدة عليهن المطلقة قبل الدخول الخ (عالمګيري كتاب الطلاق الباب الثالث عشر في العدة ج۱ ص۴۷۱، ط. س. ج۳ ص۵۲۲). ظفير

([2]) الدر المختار على هامش ردالمحتار باب العدة فصل في الحداد ج۲ ص۸۴. ط. س. ج۳ ص۵۳۶. ظفير

([3]) الدر المختار على هامش ردالمحتار باب نكاح الكافر ج۲ ص۵۳۷ ط. س. ج۳ ص۱۹۳. ظفير =

دعدت ورځې دطلاقيدو دوخت څخه شمېرل کيږي: **سوال**: (۱۰۴۴) يوه سړي خپلي ښځې ته په شل ځلي داسي وويل چي ما دې ته طلاق ورکړی دی او پرې ايښي مي ده دا به يي وليکل او تل به په سفر ولاړی اوس هغه دسفر څخه راستون سو، نو هغه ته ټولو خلګو وويل او طلاق نامه يې ورباندي وليکله نو زما نکاح دهغي ښځې سره اوس کيدلای سي او که نه؟ دطلاق نامي دليکلو څخه عدت شميرل کيږي او که دکمه وخته څخه؟

جواب: کم وخت چي ميړه دا ويلي چي ما دي ښځې ته طلاق ورکړی دی په هغه وخت کي طلاق واقع سوی دی او دهغه وخت څخه عدت پيل سوی دی که دطلاقيدو دوخته راهيسي دری حيضه راغلي وی نو اوس ستا نکاح دهغي سره کيدی سي في الحال نکاح وکړه دطلاق نامې دليکلو څخه وروسته په دي صورت کي بيا دعدت تيرولو اړتيا نسته. ([1])

که دخلوت څخه مخکي طلاق ورکړل سوی وی نو پر هغې عدت نسته: **سوال**: (۱۰۴۵) دبالغ زيد نکاح دنابالغي هندي سره دولايت دقاعدي سره سم وسوه بيا لږ وخت وروسته زيد هندي ته مغلظ طلاق ورکی، او تر اوسه پوري انجلۍ دخپل مور او پلار يعني ولي په کورکي ده دميړه کورته هيڅکله هم نه ده تللي، دطلاق په وخت کي هغه انجلۍ نابالغه وه دطلاق څخه يوه مياشت وروسته هغه بالغه سوه په دي صورت کي پرانجلۍ عدت لازم دی او که نه؟

جواب: که طلاق تر دخول أو خلوت مخکي ورکړل سوی وي نو عدت لازم نه دی لکه څنګه چي الله ﷻ فرمايلي دي: ﴿ثُمَّ طَلَّقْتُمُوهُنَّ مِنْ قَبْلِ أَنْ تَمَسُّوهُنَّ فَمَا لَكُمْ عَلَيْهِنَّ مِنْ عِدَّةٍ تَعْتَدُّونَهَا﴾ الآية ([2]).

په ټيليګراف سره که دمړيني خبر راغی نو داعتبار قابل دی او عدت به دمرګ دورځې څخه شمېرل کيږي: **سوال**: (۱۰۴۶) دټيليفون يا ټيلګراف يا ليك په ذريعه دچا دمړينی خبر معتبر ګڼل کيږي او که نه ؟ او دهغه ښځه دهغه تاريخ څخه په عدت کي کښيني او که څه وکړي؟ چي ددي ورځې دحساب څخه دعدت ورځې تيري سي نو هغه دويمه نکاح کولای سي او که نه؟

([4]) والعدة للموت اربعة اشهر الخ وعشر الخ مطلقا وطئت او لا ولو صغيرة او كتابية الخ (الدرالمختار على هامش ردالمحتار باب العدة مطلب في عدة الموت ج۲ ص۸۳۰. ط. س. ج۳ ص۵۱۰). ظفير

([1]) هى (أى العدة) انتظار مدة معلومة يلزم بعد زوال النكاح (عالمگيري مصري الباب الثالث عشر في العدة ج۳ ص۴۷۱، ط. ماجدية ج۳ ص۵۲۲). ظفير

([2]) سورة الأحزاب ركوع : ۲، آية : ۴۹. ظفير

جواب: دطلاق او دمړيني دا ډول خبر معتبر ګڼل کيږي او دهمدغه تاريخ څخه دښځي عدت پيل کيږي ([1]) كه وروسته داخبره محققه سوه او ربښتيا وخته نو عدت به معتبر وي او كه دروغ سوه بيا به عدت معتبر نه وي او نكاح به قائمه وي او ترڅو چي دلومړني خبر مخالف خبر نه وي واغلی او عدت تيره سي نو ښځي ته دويمه نكاح كول صحيح او جائز دي.

دوفات په عدت کی انجلۍ دپلار کورته راتلای سي اوکه نه؟ سوال: (۱۰۴۷\۱) يو سړی چي دخورجې دسيمي اوسيدونکی دی په لکهنؤ کي مړ سو او دمړه ورور دهغه ښځه او مور سدولي نومي ځای ته چي لکهنؤ ته څيرمه دی او دی هلته نوکر دی راوستل اوس دمړه سوي ښځه دخپلو والدينو کورته دعدت په شپو کي تللای سی اوکه نه؟

(۲) كه دخدای بخښلي ورور دهغه ځای څخه نقل وکړي نو په دې حالت کي دخپل پلار کورته په راتللو سره هغه ښځه عدت پوره کولای سي اوکه نه؟

(۳) دخدای بخښلي ښځه دعدت وخت چيري تير کړي؟

(۴) كه ښځه دپلار په کورکي وه او ميړه يې مړ سو نو هغه به عدت چيري تيروي؟

جواب: ۱: اوس دا ښځه دخپل پلار کورته دعدت په شپوکي نه سي تللای عدت دي هلته دزوج په کور کي پوره کړي بيا دي ولاړه سي، كما في الشامي: وحكم ما انقلت اليه حكم المسكن الأصلي فلا يخرج منه الخ ج۲ ص۲۲۱. ([2])

۲: په دي حالت کي که هلته دعدت تيرولو انتظام وي نو هلته دي عدت پوره کړي مثلا چي دهغي سره يو څوک پاته سي اوکه مجبوري وي نو بيا چي کم ځای نژدي وي هلته دي بوتلل سي. ([3])

۳: قانون دادی چي دميړه دمرګ په وخت کي چي ښځه هر ځای موجوده وي هلته دي عدت تير کړي دمجبوري په صورت کي بل ځای ته تللای سي بيا دي دهغه څخه ځايه بل چيری نه ځي لنډه دا چي په عدت کي دي تر خپله وسه دسفر څخه ځان وژغوري. ([4])

۴: په داسي حالت کي دي دپلار په کور کي عدت پوره کړي په درمختار کي دي: وتعتد

([1]) هی (أی العدة) انتظار مدة معلومة يلزم بعد زوال النكاح (عالمگيري مصري الباب الثالث عشر في العدة ج۳ ص۴۷۱، ط. ماجدية ج۳ ص۵۲۲). ظفير

([2]) رد المحتار باب العدة ج۲ ص۸۵۴ ط. س. ج۵۳۷. ظفير

([3]) و([4]) وتعتد أی معتدة طلاق وموت في بيت وجبت فيه ولا يخرجان مه إلا أن تخرج او ينهدم المنزل او تخاف انهدامه او تلف مالها او لا تجد كراء البيت ونحو ذلك من الضرورات فتخرج لأقرب موقع اليه الخ (الدر المختار على هامش ردالمحتار باب العدة فصل في الحداد ج۲ ص۸۵۴. ط. س. ج۳ ص۵۳۲). ظفير

أی معتدة طلاق وموت في بيت وجبت فيه ولا يتخرجان منه إلا أن تخرج او ينهدم المنزل الخ وفي الشامي قوله في بيت وجبت فيه هو ما يضاف اليهما بالسكنی قبل الفرقة ولو غير بيت الزوج (١) شامي ص٢٢١ ج٢.

عدت دطلاق دوخت څخه شمېرل کيږي: **سوال**: (١٠٤٨) زيد دليك په ذريعه خپلي ښځي ته دری طلاقه ورکړل دری کاله وروسته دزيد خسر زيد ته ورغی، او ورته وې ويل چي زما دلور په اړوند ستا څنګه اراده ده؟ زيد ددوو شاهدانو په مخ کي دا وينا وکړه چي مخکي مي هم په خطونو کي هغي ته طلاق ورکړی وو او اوس هم مکرر دری ځلي طلاق ورکوم، په دي صورت کي که دزيد پرښځه طلاق واقع کيږي نو عدت به دخطونو دوخته څخه اوکه دشاهدانو په مخ کي دطلاق دوخته څخه پيل کيږي؟

جواب: دزيد دخط او دشاهدانو په مخ کي دبيان څخه دزيد پر ښځه ددرو طلاقونو واقع کيدل ثابت سول نو دهغه ښځه مطلقة ثلاثه سوه او عدت دخط دليکنو دورځو څخه پيل کيږي كما في الدر المختار: ومبدأ المدة بعد الطلاق وبعد الموت على الفور وتنقضي العدة وإن جهلت المرأة بها ای الطلاق والموت لأنها أجل فلا يشترط العلم بمضيته سواء اعترف بالطلاق او انكهر الخ (٢) أي بعد أن اقيمت عليه البينة رد المحتار فكما كتب هذا يقع الطلاق وتلزمها العدة من وقت الكتابة الخ (٣) ج٢ ص٤٢٨.

ديوې ښځي سره دوو سړيو دنكاح دعوه وکړه او تاريخ يې ونه ښودی نو ددواړو نكاح فسخ ګڼل کيږي: **سوال**: (١٠٤٩) زيد اوعمر دواړه ددي خبري مدعيان دي چي هنده زمونږ منکوحه ده، او هنده ددواړو سره دخپل ګمان موافق دصحيح نكاح په ډول اوسيږي هم، بيا دواړو شرعي محكمي ته خپلي دعوې وړاندي کړي او دواړو ثبوت هم راوړی قاضي دواړي نكاحي ناجائزي وګڼلي او ښځه يې ورڅخه بيله کړه اوس كه هغه ښځه دويمه نكاح دبل چا سره يا په دوی دواړوكي ديوه سره كول وغواړي نو دشرعي قواعدو په رڼا کي عدت تيرول ورباندي لازم دي اوكه نه؟

جواب: په درمختار کي ويلي دي: فان برهنا في دعوی نكاح سقطا لتعذر الجمع إلى أن قال هذا إذا لم يؤرخا (٤). نو معلومه سوه چي په دي صورت کي چي كله په هغو دواړو کي يوه هم تاريخ بيان نه کړی نو ددواړو دعوه ساقطه سوه اوپه هغوی کي ديوه نكاح هم

(١) رد المحتار باب العدة فصل في الحداد ج٢ ص٨٥٤ ط. س. ج٣ ص٥٣٦. ظفير
(٢) الدر المختار على هامش ودالمحتار باب العدة ج٢ ص٨٣٩. ط. س. ج٣ ص٥٢٠. ظفير
(٣) رد المحتار كتاب الطلاق مطلب في الطلاق بالكتابة ج٢ ص٥٨٩. ط. س. ج٣ ص٢٤٦. ظفير
(٤) الدر المختار على هامش ردالمحتار باب دعوی الرجلين ج٤ ص٢٠٤ – ٢٠٥. ط. س. ج٣ ص٥٧١. ظفير

ثابته نه سوه دهمدي امله ددويمي نکاح لپاره دښځي عدت تيرول ضروري نه دي.

مرتده دي داسلام راوړلو څخه وروسته عدت تيره کړي بيا دي نکاح وکړي: **سوال**: (۱۰۵۰) که يوه ښځه مرتده سي نو دهغي نکاح باطليږي اوکه نه؟ که په مرتده کيدلو سره نکاح باطليږي نو بيا په مسلمانيدو سره دبل چا سره دعدت دپوره کيدو څخه پرته نکاح کولای سي اوکه نه؟

جواب: په درمختار کي دي: وارتداد احدهما فسخ عاجل بلا قضاء [۱] الخ وفيه ايضا في باب العدة وهی في حق حرة تحيض لطلاق الخ او فسخ بجميع اسبابه بعد الدخول حقيقة او حکما الخ ثلثة حيض کوامل الخ [۲] نو معلومه سوه چي دمرتدي نکاح فسخ کيږي، او وروسته داسلام راوړلو څخه هغه سمدستي دبل چا سره نکاح نه سي کولای، بلکه عدت پرهغي باندي لازم دی که هغه مدخوله وي نو دعدت دپوره کيدو څخه مخکي دبل چا سره نکاح نه سي کولای اوکه دا معلومه سوه چي ښځي دا حيله دلومړني ميړه څخه دبيلوالي لپاره کړي وه او اول ميړه دهغي ساتل غواړي نو فقهاوو په دي فتوی ورکوي چي هغي ښځي ته دي پراسلام دمجبورلو څخه وروسته داول ميړه سره جبراً نکاح ور وتړل سي: وتجبر علی الإسلام وعلی تجديد النکاح زجرا لها الخ قال في الشامي في شرح قوله وعلی تجديد النکاح ولا يخفی أن محله إذا طلب الزوج ذلك الخ. [۳]

که دعدت په زمانه کي دزنا څخه حمل وسو نو دهغې عدت وضع دحمل ده: **سوال**: (۱۰۵۱) هنده دخپل ميړه خالد له مرګه وروروسته په دويمه ورځ دعباس کور ته راغله او په دواړو کي ناجائز تعلق دی کله چي دعدت زمانه هم په زناکاري کي تيره سوه نو دخلګو په ويلو سره عباس دهندي سره نکاح کولو ته تيار سو په دي صورت کي نکاح کيدلای سی اوکه نه؟ که هنده حامله سوي وي نو څومره موده وروسته نکاح کولای سي؟

جواب: په دې صورت کي دعباس نکاح دهندي سره دوفات دعدت دپوره کيدو څخه وروسته يعني دميړه دمړيني څخه څلور مياشتي او لس ورځي وروسته صحيح اوجائزه ده، په شامي کي دي: واعلم أن المعتادة لو حملت في عدتها ذکره الکرخي أن عدتها وضع الحمل ولم يفصل والذي ذکره محمد أن هذا في عدة الطلاق أما في عدة الوفاة فلا تتغير بالحمل وهو الصحيح کذا في البدائع الخ. [۴]

---

[۱] الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب نکاح الکافر ج۲ ص۵۳۹. ط. س. ج۳ ص۱۹۳. ظفير
[۲] ايضا. باب العدة ج۲ ص ۸۲۵ – ۸۲۲. ط. س. ج۳ ص۵۰۴. ظفير
[۳] رد المحتار باب نکاح الکافر ج۲ ص۵۴۰. ط. س. ج۳ ص۱۹۴. ظفير
[۴] رد المحتار باب العدة ج۲ ص۸۳۱ ط. س. ج۳ ص۵۱۲. ظفير

دخلوت صحيحه څخه مخکي ميړه مړسو نوپر ښځي باندي يې دوفات عدت ضروري ده:

سوال: (۱۰۵۲) ديوي بالغي انجلۍ نکاح وسوه خو دصحيح خلوت څخه مخکي دهغي ميړه مړ سو په داسي حالت کي دهغي لپاره څلور مياشتي او لس ورځي عدت تيرول واجب دي اوکه نه؟ که هغي ترڅلورو مياشتو او لسو ورځو مخکي دويمه نکاح وکړه نو نکاح جائز سوه اوکه نه؟

جواب: دوفات عدت څلور مياشتي او لس ورځي پرهغې لازم دی (۱) او دعدت دتيريدلو څخه مخکي چي کمه نکاح دي کونډي انجلۍ کړيده هغه صحيح نه سوه.

دحاملي عدت دحمل وضعه ده: **سوال:** (۱۰۵۳) هنده حامله سوه او په نس کي يې حمل وچ سو دحمل څخه چي کله پوره يوکال تير سو نو دهغي ميړه بکر مړ سو دهغي دميړه دمرګ يو کال او دری مياشتي او دحمل دشروع څخه دوه کاله او درې مياشتې تيري سوي دي خو تراوسه دحمل وضعه نه ده سوي هنده بل ځای نکاح کول غواړي شرعا جواز لري اوکه نه؟

جواب: شرعي حکم په دي باره کي دا دی چي متوفي عنها زوجها که دميړه دوفات په وخت کي حامله وه نوکه دميړه دمرګ څخه وروسته تر دوو کلونو په لږه موده کي ماشوم وزيږيدی نو دهغه ماشوم نسب دهغه مړه ميړه څخه ثابتيږي لکه څنګه چي په درمختارکي دي: ويثبت نسب ولد معتدة الموت لأقل منهما من وقته أی من سنتين من وقت الموت الخ (۲) او دحاملي عدت دحمل وضعه ده کما في الدر المختار: وفي حق الحامل مطلقا الخ وضع جميع حملها الخ (۳) نو دحمل تر وضعي مخکي هنده بل ځای نکاح نه سي کولای.

که په دريو مياشتو اولسو ورځو کي درې حيضه راغلي وي نو عدت ختم سو او نکاح صحيح ده: **سوال:** (۱۰۵۴) دری مياشتي او لس ورځي وروسته چي کمه نکاح سويده هغه صحيح ده که نه؟

جواب: دمطلقي عدت دری حيضه دي يعني هغي ته چي کله حيض راځي، ځکه نو عدت داده چي دطلاق څخه وروسته درې حيضه پوره سي ددي څخه وروسته دويمه نکاح کولای سی، اوکمي ښځي ته چي حيض نه راځي دهغي عدت درى مياشتي دی نو که ذکر

---

(۱) والعدة للموت اربعة اشهر الخ وعشر الخ وطئت او لا ولو صغيرة (الدر المختار على هامش ردالمحتار باب العدة مطلب في عدة الموت ج۲ ص۸۳۰ ط. س. ج۳ ص۵۱۰). ظفير

(۲) الدر المختار على هامش ردالمحتار باب ثبوت النسب ج۲ ص۸۲۵. ط. س. ج۳ ص۵۴۲. ظفير

(۳) ايضا باب العدة ج۲ ص۸۳۱. ط. س. ج۳ ص۵۱۰. ظفير

سوي ښځي ته حيض راځي نو ودي کتل سي چي په ذکر سوي موده کي درې حيضه راغلي دي اوکه نه؟ که درى حيضه تير سوي وي او دهغو وروسته نکاح سوي وي نو نکاح صحيح ده اوکه درى حيضه نه وي پوره سوي نو دويمه نکاح صحيح نه سوه.

که دښځي ميړه دهرڅومره ورځو راهيسي ورڅخه بيل وي خو دصحيح خلوت څخه وروسته عدت لازمه ده: **سوال**: (۱۰۵۵) يو سړى دخپلي ښځي څخه درى کاله بيل اوسيدى او بيا يې طلاق ورکى هغي دعدت دپوره کيدلو څخه مخکي ددويم سړي سره نکاح وکړه دحنفي مذهب موافق په ليکل سوي صورت کي نکاح صحيح ده اوکه نه؟ پر دوهم تقدير دنکاح تجديد او توبه ضروري ده اوکه نه؟

جواب: ښځه که مدخوله وي اويا ورسره خلوت صحيحه سوى وي نو عدت لازم دى او په عدت کي دننه چي کمه نکاح سويده هغه باطله ده دعدت څخه وروسته دنکاح تجديد ضروري دى، اوکمه گناه چي وسوه دهغه څخه دي توبه وکړي.

دحاملي عدت دحمل وضع ده: **سوال**: (۱۰۵۶) إمرأة طلقها زوجها في مرض موته ثلاثا وهى حامل والحمل في بطنها منذ خمسة اعوام فما عدتها وضع الحمل ولا يعلم وضع الحمل متى يكون فهل يلزمها العدة بالأشهر ام بوضع الحمل؟

جواب: عدتها وضع الحمل لقوله تعالى: واولات الأحمال أجلهن أن يضعن حملهن. الآية (۱) وفي الدرالختار وفي حق الحامل مطلقا الخ وضع جميع حملها (۲) وفي البحر عن الخانية المتوفى عنها زوجها إذا ولدت لأكثر من سنتين من الموت حكم بانقضاء عدتها قبل الولادة بستة اشهر وزيادة فتجعل كأنها تزوجت بآخر بعد إنقضاء العدة وحملت منه الخ شامي. (۳)

پرغير مدخوله باندي عدت نسته: **سوال**: (۱۰۵۷) ما قولكم في طلاق امرأة غير مدخولة بها هل عليها العدة ام لا ؟ وان تزوجت بزوجها الأول المطلِّق هل يجوز لها التزوج به ان طلق الزوج الأول طلاقاً واحداً او ثلثة متفرقات ام لا ؟ بينوا تؤجروا !

جواب: (اقول وبه نستعين) غير مدخولي ښځي ته چي دهغي سره نه ميړه وطی کړي وي او نه خلوت صحيحه که ميړه طلاق ورکړى نو پرهغي باندي عدت لازم نه دى لقوله تعالى: فما لكم عليهن من عدة تعتدونها، الآية (۴) او غير مدخولي ته که درى متفرق

---

(۱) سورة الطلاق ركوع: ۱. ظفير
(۲) الدر المختار على هامش ردالمحتار باب العدة ج۲ ص۸۳۱. ط. س. ج۳ ص۵۱۲. ظفير
(۳) ردالمحتار باب العدة ج۲ ص۸۳۱. ط. س. ج۳ ص۵۱۲. ظفير
(۴) سورة الأحزاب. ركوع: ۲. ظفير

طلاقونه ورکړي نو هغه په لومړني طلاق باندي بائنه ګرځي، دویم او دریم طلاق پرهغي نه واقع کیږي ([1]) ځکه نو اول میړه ته دهغي سره بي له حلالي نکاح کول صحیح دي. هکذا في عامة كتب الفقه.

دباطلي او فاسدي نکاح په مینځ کی فرق نسته په هغې کی چی کمه وطی سوی وی هغه حلاله نه ده: **سوال**: (۱۰۵۸) (الف) یوي ښځي دزید سره نکاح وکړه او زید هغي ته مغلظ طلاق ورکی هغي ښځي دعدت دپوره کولو څخه مخکي دعمر سره نکاح وکړه څه وخت وروسته عمر هم هغي ته طلاق ورکړی اوس هغي ښځي دخپل اول میړه یعني زید سره نکاح وکړه. (ب) دهغي ښځي دعمر سره نکاح کول دعدت په حالت کي دا نکاح فاسده ده اوکه باطله؟ (ج) په دي نکاح سره چي په عدت کي واقع سوي چي کمه وطی وسوي هغه دحلالي لپاره کافي ده اوکه نه؟ او دوهم ځل داولي دمیړه لپاره دهغي سره نکاح کول صحیح دي اوکه نه؟

جواب: دعدت دتیریدو څخه مخکي چي دي ښځي دعمر سره کمه نکاح کړیده هغه باطله او فاسده ده او په باطله او فاسده نکاح کي دمحققینو په قول هیڅ فرق نسته په خلاف دبیعي، په شامي کي دي: فيه أن لا فرق بين الفاسد والباطل في النكاح بخلاف البيع الخ ([2]) او په فاسده نکاح سره وطی کول دحلالی لپاره کافي نه دي په درمختار کي دي: حتى يطأها غيره بنكاح نافذ خرج الفاسد والموقوف الخ ([3]) نو دحلالي لپاره ضروري ده چي هغه ښځه دعدت دتیرولو څخه وروسته دبل چا سره نکاح وکړي، او هغه تروطی وروسته طلاق ورکړي بیا دهغه عدت هم تیره سي په دي وخت کي به داول میړه سره نکاح صحیح وی: كما في الدر المختار لا ينكح مطلقة بها اى بالثلث حتى يطأها غيره بنكاح نافذ وتمضي عدتها أى لثاني الخ. ([4])

دخلعه سوي ښځي سره دعدت دپوره کیدو څخه پرته نکاح صحیح نه ده: **سوال**: (۱۰۵۹) یوه سړي دمطلقي مختلعي ښځي سره دطلاق دوقوع څخه ځلور ورځي وروسته نکاح وکړه او وایی چي عدت ضروري نه ده آیا نکاح صحیح ده اوکه نه ده؟ او دذکر سوي سړي لپاره څه حکم دی؟

([1]) قال لزوجة غير المدخول بها أنت طالق ثلاثا وقعن الخ وإن فرق بانت بالأولى لا إلى عدة ولذا لم يقع الثانية الخ (الدر المختار على هامش ردالمحتار باب طلاق غير المدخول بها ج۲ ص۲۲۴ – ۲۲۲، ط. س. ج۳ ص۲۸۴). ظفير

([2]) ردالمحتار باب العدة مطلب في النكاح الفاسد والباطل ج۲ ص۸۳۵ ط. س. ج۳ ص۵۱۲. ظفير

([3]) الدر المختار على هامش ردالمحتار باب الرجعة ج۲ ص۷۳۹ ط. س. ج۳ ص۵۱۰. ظفير

([4]) الدر المختار على هامش ردالمحتار باب الرجعة ج۲ ص۷۳۹. ط. س. ج۳ ص۵۱۰. ظفير

جواب: دعدت په مينځ كي نكاح باطله ده الله ﷻ فرمايلي دي: والمطلقات يتربصن بانفسهن ثلثة قروء، الآية [۱] او خلعه طلاق دی لكه څنګه چي په درمختاركي دي: وحكمه أن الواقع به ولو بلا مال وبالطلاق على مال طلاق بائن الخ [۲] او دذكر سوي سړي دعدت دضرورت څخه انكار كول دقرآني نص صريحه مقابله ده نو دهغه قول باطل دی او ذكر سوی سړی فاسق دی او واجب التعزير دی.

دچا چي ميړه مړ سي دهغې عدت څلور مياشتي او لس ورځي دي: **سوال**: (۱۰۲۰) دصغيري زبيدي ميړه وفات سو نو دهغي عدت به څلور مياشتي او لس ورځي وي اوكه زيات يا كم؟

جواب: پوره څلور مياشتي اولس ورځي به دهغي عدت وي ددي عدت دپوره كيدو مخكي دهغي كونډي نكاح جائزه نه ده. [۳]

په عدت كي نكاح جائزه نه ده او دهغي سره خلوت هم جائز نه دی: **سوال**: (۱۰۲۱) ديوي ښځي ميړه مړ سو دميړه دمړيني څخه دوې مياشتي وروسته يوه سړي دي ښځي ته بنګړي ورواچول اودنكاح په غرض يې په خپل كوركي ساتلي ده شپه او ورځ دهغي په لاس پخه سوي ډوډی خوري دا جواز لري اوكه نه؟ او دشپې په يوه كوركي سره اوسيږي.

جواب: په عدت كي نكاح باطله ده قال الله تعالى: ولا تعزموا عقدة النكاح حتى يبلغ الكتاب أجله [۴]، او دنكاح څخه پرته دپردی ښځي سره په خلوت كي اوسيدل حرام دي كه دهغي په لاس پخه سوي ډوډی خوري اوكه يې نه خوري، غرض دا چي په خوراك كي په اصل كي هيڅ پروا نسته، حرج په دي كي دی چي يوازي دهغي سره اوسيږي، او داسي خبري وكړي چي په هغو كي تهمت وي. [۵]

كه دعزت بيره وي نو عدت بل ځای تيرولای سي: **سوال**: (۱۰۲۲) سني زيد په يوه كلي كي اوسيدی چي دهغه كلي ډيری اوسيدونكي رافضيان دي او هغوی دده سره مذهبي او ډول ډول جنجالونه كول يو ځل يې ديوې دوا په پلمه په هغه باندي يو شی وخوړی چي دری څلور ساعته وروسته يې دی مړ كی، اوس كه دزيد ښځه په هغه كلي كي عدت تير

---

(۱) سورة البقرة ركوع: ۲۸. ظفير

(۲) الدر المختار على هامش ردالمحتار باب الخلع ج۲ ص۷۷۰. ط. س. ج۳ ص۴۴۴. ظفير

(۳) والعدة للموت اربعة أشهر بالأهلة وعشر من الأيام بشرط بقاء النكاح صحيحا إلى الموت مطلقا وطئت اولا ولو صغيرة او كتابية تحت مسلم ولو عبدا (الدر المختار على هامش ردالمحتار باب العدة ج۲ ص۸۳۰. ط. س. ج۳ ص۵۱۰). ظفير

(۴) سورة البقرة ركوع ۳۰. ظفير

(۵) وهو الظاهر لحرمة الخلوة بالأجنبية (رد المحتار باب العدة ج۲ ص۸۵۵. ط. س. ج۳ ص۵۳۸). ظفير

کړي نو دهغي دعزت بيره ده اود مال دتلف کيدو خطره ده نو دوالدينو کره په تلو سره عدت تيرولای سي اوکه نه؟

جواب: په داسي حالت کي دوالدينو کره تلل او هوري عدت تيرول صحيح دي. (۱)

په تحريري طلاق کی هم عدت لازم دي: **سوال**: (۱۰۲۳) يوه سړي خپلي ښځي ته تحريري طلاق ورکی پرهغه ښځه عدت لازم دی اوکه نه؟

جواب: پردي ښځه عدت لازم دی دطلاق دوخته څخه چي دعدت دری حيضه پوره کړي بيا دويمه نکاح کولای سي. هکذا في کتب الفقه. (۲)

ښځه چي هرځای وه او ميړه يی مړ سو هغه دي هلته عدت تيره کړي: **سوال**: (۱۰۲۴) هنده دوالدينو په کورکي دميړه څخه په يو نيم سل ميله فاصله کي موجوده وه چي کونډه سوه اوس دعدت څخه مخکي دميړه کورته دوروري درواج له مخي بوتلل سوه دا جواز لري اوکه نه؟

جواب: جواز نه لري بلکه دوالدينو په کورکي چيري چي دا دميړه دمرګ په وخت کي وه هوري دي عدت تيره کړي، کذا في الدرالمختار وتعتد أی معتدة طلاق وموت في بيت وجبت فيه الخ. (۳)

داياس يعني نا اميدي تر سن مخکي عدت په حيضونو سره وي: **سوال**: (۱۰۲۵) يوه ښځه چي دهغي حالت دادی چي دبلوغ په وخت کي يی څه زمانه حيض بند سو بيا په درملنه کولو سره شروع سو خپل عادت يی وتاکی او راتلی به دماشوم دزيږيدو څخه وروسته بيا نه راغی بلکه دبندوالي په حالت کي وو هغي ته طلاق ورکړل سو او دری مياشتي پوره سوي خو يوځل هم بيا حيض ورته رانغی آيا هغه ديو بل سړي سره نکاح کولای سي او که دري حيضه پوره کړي اوس دهغي عمر دشلو پنځه ويشتو کلونو په مينځ کي دی؟

جواب: تر څو چي داياس سن ته دهغي عمر نه وي رسيدلی تر هغه وخته به عدت دری حيضه ګڼل کيږي په مياشتو سره به عدت معتبر نه وي، البته دا ممکنه ده چي ددوا يا بل څه په ذريعه ويني را وايستل سي، درمختار. (۴)

---

(۱) وتعتدان أی معدة طلاق وموت في بيت وجبت فيه ولا يخرجان منه إلا أن تخرج او يتهدم المنزل او تخاف انهدامه او تلف مالها ونحو ذلك من الضرورات فتخرج (درمختار) أی معتدة الوفاة كما دل عليه مابعده الخ (رد المحتار باب العدة فصل في الحداد ج۲ ص۸۵۴ ط. س. ج۳ ص۵۳۲). ظفير

(۲) فكما كتب هذا يقع الطلاق وتلزمها العدة من وقت الكتابة (رد المحتار كتاب الطلاق ج۲ ص۵۸۹. ط. س. ج۳ ص۲۴۶). ظفير

(۳) الدر المختار على هامش ردالمحتار فصل في الحداد ج۲ ص۸۵۴ ط. س. ج۳ ص۵۳۲. ظفير

(۴) وخرج بقوله لم تحض الشابة الممتدة بالطهر بأن حاضت ثم امتد طهرها فتعد بالحيض إلى أن تبلغ سن =

دمېړه دمرګ دخبر څخه وروسته چي کمه نکاح ترعدت وروسته سوي وه صحيح ده خوکله چي مېړه راغئ نو اوس به هغه ښځه هغه ته ورکول کيږي: **سوال**: (۱۰۶۶) عظيم دخپل کور څخه ولاړی څلور مياشتي وروسته دهغه وارثانو ته دهغه دورور دلوري چي دهغه سره ملګری وو دمرګ اطلاع دخط په ذريعه راورسيده وروسته ديو نيم کال څخه دهغه ښځي دويمه نکاح وکړه څه وخت وروسته عظيم بيرته راغئ هغه دعوه وکړه چي دا زما ښځه ده آيا شرعا ذکر سوي ښځه دعظيم په عقد کي پاته ده اوکه څنګه؟ بيا يې راضي نامه وليکله او دهغه څخه يې طلاق واخستی اوس دهغه طلاق عدت پرښځه باندي لازمه ده اوکه نه؟ او ددويمي نکاح ضرورت سته اوکه نه؟ او ددويم مېړه څخه چي کم اولاد سوی دی هغه دچا دی؟

جواب: دشامي په کتاب المفقود کي دي: لكن لو عاد حيا بعد الحكم بموت اقرانه قال الطحطاوي الظاهر أنه كالميت إذا أحيى والمرتد إذا أسلم فالباقي في يد ورثته له ولا يطالب بما ذهب قال ثم بعد رقمه رأيت المرحوم ابا السعود نقله عن الشيخ شاهين ونقل أن زوجته له والأولاد للثاني تأمل ج۳ ص۳۳۲. رد المحتار (۱)، ددي حاصل دادی چي کله اول مېړه راغئ نو هغه ښځه دده ده او کم اولاد چي ددويم مېړه څخه پيدا سوی دی هغه ددويم مېړه دی اوکه اول مېړه طلاق ورکړي نو دعدت څخه وروسته دا ښځه دبل سړي سره نکاح کولای سي او داول مېړه دمرګ دخبر څخه وروسته چي دي ښځي دعدت دپوره کيدو څخه وروسته کمه نکاح کړي وه هغه صحيح وه خو داول مېړه ترراتلو وروسته هغه فسخه سوه كما ظهر من عبارة الشامي.

په عدت کي دننه ښځي ته په دوکه ورکولو سره هغه ديوه خاص سړي سره په واده کولو مجبورول معصيت او ګناه ده: **سوال**: (۱۰۶۷) عمر ديوي ښځي دمېړه دمړيني څخه څلوېښت ورځي وروسته دمړي دحقيقي ورور په وينا دنكاح په رجسترکي سپينه پاڼه کښېښوده او ګوتي يې ولګولي چي معتدي ښځي ته معلومه سي چي دنكاح په رجستر کي دګوتو لګولو څخه وروسته اوس زه ترعدت وروسته دبل چا سره نکاح نه سم کولای، او عمر دا باور ورکی چي اوس ستاسو نکاح وسوه زيد عمر ته په څو خلګو کي وويل چي دا ډول کول دوکه او معصيت دی آيا په داسي کولو سره عمر ګنهګار سو اوکه نه؟

جواب: دا بيشکه دوکه ورکول او دشرعي حکم پټول دي ښځي ته دا مسئله ښودل په کار

= الإياس (الدر المختار على هامش ردالمحتار باب العدة ج۲ ص۸۲۸ ط. س. ج۳ ص۵۰۸). ظفير

(۱) رد المحتار كتاب المفقود ج۳ ص ۴۵۸. ط. س. ج۴ ص۲۹۷. ظفير

دي چي هغې ته اختيار دی چي دعدت دتيريدو څخه وروسته چي دچا سره غواړي نکاح دي وکړي او دا چي دنکاح په عدت کي دنکاح وعده صراحةً صحيح ده نه دا چي هغه مقيده او پابنده کړل سي غرض دا چي دافعل مذموم او لوی معصيت دی. (۱)

پرمدخوله باندي دوه کاله دميړه دجدا اوسيدو سره سره هم وروسته دطلاق څخه عدت سته:

سوال: (۱۰۶۸) يوه منکوحه ښځه دخپل ميړه سره ترڅه وخته پوري يو ځای هم بستر اوسيدله بيا دځه خفګان له امله تر دوو کلونو پوري دميړه څخه بيله سوه بيا ميړه طلاق ورکی نو عدت واجب دی اوکه نه؟ که دعدت دتيريدو څخه پرته ښځه دبل چا سره نکاح وکړي نو دا نکاح جائزه ده اوکه نه؟

جواب: عدت پردي باندي واجب دی او دعدت دتيرولو پرته دويمه نکاح ددويم سړي سره کول باطل او حرام دي كما قال الله تعالى: ولا تعزموا عقدة النكاح حتى يبلغ الكتاب اجله، الآية. (۲)

په عدت کي نکاح حرامه ده: **سوال:** (۱۰۶۹) مطلقا دبل په عدت کي نکاح فاسده ده اوکه باطله؟

جواب: دمعتدي سره په عدت کي نکاح کول حرام دي كما قال الله تعالى: ولا تعزموا عقدة النكاح حتى يبلغ الكتاب اجله. الآية (۳) پاته سوه داخبره چي په عدت کي نکاح باطله ده اوکه فاسده؟ په دي کي دواړه قوله دي أو محقق ابن همام فرمايلي دي چي دنکاح په باب کي دباطل او فاسد ترمينځ هيڅ فرق نسته ځيني فقهاء وايي چي که ناکح ته معلومه وي چي دا ښځه معتده ده نو نکاح باطله ده او که نه وي نو فاسده ده او په باطله کي عدت نه لازميږي او په هغي کي دخول سچه زنا ده او په فاسده کي ددخول څخه وروسته عدت لازم دی، والتفصيل في كتب الفقه.

دصحيح خلوت څخه وروسته عدت ضروري دي: **سوال:** (۱۰۷۰) عمر او هنده خور او ورور دي اوبل لوري ته زيد او زينب خور او ورور دي ددوی په خپل مينځ کي دزيد نکاح دهندي سره او دعمر نکاح دزينب سره وسوه، زيد اوهنده دواړه بالغ وه او عمر او زينب نابالغ وه دری مياشتي وروسته زيد هندي ته طلاق ورکی ددي واقعي دری کاله تير سوي دي اوس دواړه بالغ دي که عمر زينب ته طلاق ورکړي نو دهغوی دعدت په اړه به څه حکم وي؟

---

(۱) والمعتدة تحرم خطبتها وصح تعريضا لو معتدة الوفاة (الدر المختار على هامش ردالمحتار فصل في الحداد ج۲ ص۸۵۲. ط. س. ج ۳ ص۵۳۴). ظفير

(۲) سورة البقرة: رکوع ۳۰. ظفير

(۳) ايضا. ظفير

جواب: که عمر دزینب سره وطی یا خلوت صحیحه کړی وي او وروسته دعدت څخه عمر زینب ته طلاق ورکړی نو پر زینب باندي عدت لازمیږي لکه څنګه چي الله ﷻ فرمایلي دي: والمطلقات يتربصن بأنفسهن ثلاثة قروء ، (۱) او ددرمختار دعدت په باب کي دي: تربص يلزم المرء عند زوال النكاح الخ وسبب وجوبها عقد النكاح المتاكد بالتسليم وما جرى مجراه من موت او خلوة الخ (۲) او دشامي په باب المهر کي دي: وتجب العدة بخلوته وإن كانت فاسدة لأن تصريحهم بوجوبها بالخلوة الفاسدة شامل لخلوة الصبي كذا في البحر من باب العدة الخ (۳) ج۲ ص۳۳۹. شامي.

دمطلقي ممتدة الطهر عدت به څومره وي؟ **سوال**: (۱۰۷۱) دممتدة الطهر مطلقي ښځي عدت څومره دی او دهغي عادت دادی چي دولادت څخه وروسته هغي ته دوه کاله بعد حیض ورځي تر اوسه دری څلور میاشتي سوي دي چي دهغي زوی پیدا سوی دی تر هغه وروسته طلاق ورکړل سوی دی هغي ته حیض راځي.

جواب: قال الزاهدي وقد كان بعض اصحابنا يفتون بقول مالك رحمه الله في هذه المسئلة للضرورة الخ (۴) شامي، نو ددي فتوی مطابق دممتدة الطهر عدت په نهو میاشتو ختمیږي فقط، والله تعالى اعلم.

پر رتقاء باندي هم وروسته ترخلوت عدت سته: **سوال**: (۱۰۷۲) دزید نکاح دهندي سره وسوه دخلوت څخه وروسته معلومه سوه چي هنده رتقاء ده یعني دجماع وړ نه ده اوس که زید هغي ته طلاق ورکړي نو هندي ته عدت پوره کول په کار دي اوکه نه؟ په درمختار کي یې: فلا عدة بخلوة الرتقاء، لیکلي دي؟

جواب: په شامي کي لیکلي دي چي صحیح داده چي په خلوت فاسده کي هم عدت لازم ده: وتجب العدة بخلوته وإن كانت فاسدة لأن تصريحهم بوجوبها بالخلوة الفاسدة شامل لخلوة الصبى (۵)، او ددرمختار دا قول چي: فلا عدة بخلوة الرتقاء (۶) دقدوري پردي تفصیل باندي بناء دی چي که شرعي مانع وو نو عدت واجب دی اوکه مانع حسي وو نو عدت واجب نه دی خو په باب المهر کي ددرمختار صاحب دصاحب دقدوري دا قول را

(۱) سورة البقرة: ۲۸. ظفير
(۲) الدر المختار على هامش ردالمحتار باب العدة ج۲ ص۸۲۴. ط. س. ج۳ ص۵۰۳. ظفير
(۳) رد المحتار للشامي باب المهر ج۲ ص۴۲۲. ط. س. ج۳ ص۱۱۴. ظفير
(۴) ايضا باب العدة ج۲ ص۸۲۹. ط. س. ج۳ ص۵۰۹. ظفير
(۵) ردالمحتار باب المهر ج۲ ص۴۲۲. ظفير
(۶) الدر المختار على هامش ردالمحتار باب العدة ج۲ ص۸۲۵ ط. س. ج۳ ص۵۰۴. ظفير

نقل کړی دی: والمذهب الأول، والأول هو قوله وتجب العدة بالكل ([1])، نو په ذکر سوي صورت کي دمطلقي هندي دعدت دپوره کيدلو څخه وروسته دهغي دخور سره نکاح کولای يي، نه مخکي تر عدته. فقط

دنوي مسلماني سوي ښځي عدت چي دهغي ميړه مړ سوي وي: **سوال**: (۱۰۷۳) يوه کافره مسلمانه سوه دهغي ميړه دکفر په حالت کي انتقال کړی وو په کمه ورځ چي دا مسلمانه سوه په هغه ورځ ددي دميړه دمړيني تقريبا دری مياشتي پوره سوي وي آيا ذکر سوي ښځه دمسلمانيدو په ورځ نکاح کولای سي اوکه څلور مياشتي او لس ورځي انتظار وکړي؟

جواب: په درمختارکي دي: ذمية غير حامل طلقها ذمي او مات عنها لم تعتد عند ابي حنيفة إذا إعقدوا ذلك الخ وفي الشامي: قوله لم تعتد عند ابي حنيفة فلو تزوجها مسلم او ذمي في فور طلاقها جاز الخ ([2]) ددي څخه معلومه سوه چي دکافرانو په اعتقاد کي که عدت واجبه نه وه، نو دهغي مسلماني ښځي فورا نکاح صحيح ده. فقط

په عدت کي دناستي ښځي په هيڅ ډول غم او ښادي ته تلل صحيح نه دي: **سوال**: (۱۰۷۴) يوه ښځه په عدت کي ده دهغي ورور يا نژدي خپل او قريب مړسو، نو دهغي هلته تلل ښايي اوکه نه؟

جواب: دښځي په عدت کي دضرورته پرته دعدت دکور څخه وتل او دچا په غم يا ښادي کي شريکيدل صحيح نه دي. ([3])

پريوه جواب باندي داشکال جواب: **سوال**: (۱۰۷۵) په الرشيد اتم نمبر او ۴ ټوك د۱۳۳۲ هـ کال دصفر دمياشتي په ۲۹ صفحه کي درج دي چي کله چي دوه عادل شاهدان ددريو طلاقو شاهدي ورکړي نو طلاق واقع کيږي او عدت دطلاق دوخت څخه واقع کيږي، وغيره وغيره.

احقر ته ددي جواب په پوهيدلو کي څه مشکل پيدا سو چي دهغه دليري کولو لپاره مجبور يم، دلاندنيو وجوهاتو له وجهي ګرنوالی پيدا کوي، يعني دبهشتي زيور په ۴۲ مخ کي ليکلي دي چي دبائن طلاق ورکولو څخه وروسته يې په دوکه ورکولو سره په

([1]) ايضا باب المهر ج۲ ص۴۷۴. ط. س. ج۳ ص۱۲۲. ظفير

([2]) ردالمحتار باب العدة مع هامشه ج۲ ص۸۴۵. ط.س. ج۳ ص۵۲۲. ظفير

([3]) ولا تخرج معتدة رجعي وبائن بأى فرقة كانت على ما في الظهيرية الخ فيلزمها أن تكتري بيت الزوج لو حرة الخ مكلفة من بيتها اصلا لا ليلا ولا نهارا ولا إلى صحن دار فيها منازل لغيره ولو باذنه لأنه حق الله تعالى (الدر المختار على هامش ردالمحتار باب العدة فصل في الحداد ج۲ ص۸۵۳ ط. س. ج۳ ص۵۳۵). ظفير

عدت کي دننه دمطلقي سره صحبت وکی نو اوس دهغي دوکي دصحبت له وجهي يو بل عدت واجب سو اوس دي دری حيضه نور پوره کړي کله چي دری حيضه نور تير سي نو دواړي عدې به ختم شي.

اوس ددي خبري صفايي ضروري ده چي که دمطلقي سره په دوکه صحبت وکړل سي نو بيا هم ددوهم عدت ضرورت دی، اوکه يې قصدا وکړي نو په هغه صورت کي دويم عدت ته ضرورت نسته؟ لکه څنګه چي دالرشيد دجواب دمسئلي څخه فهميږي ځکه چي دطلاق څخه وروسته تعلقات او اختلاط دميړه او ښځي قصدا جاري وو ددي وجهي دعدت شمير دطلاق دوخت څخه شروع سو نه دوروستني صحبت کولو دتاريخ څخه؟

جواب: په درمختارکي دي: وإذا وطئت المعتدة بشبهة ولو من المطلق وجبت عدة اخرى الخ [1]، ددي حاصل دادی چي که طلاق ورکوونکی په عدت کي خپله مطلقه په شبهه او دوکه سره وطي کړي نو دويم عدت لازم دی لکه څنګه چي تاسو دا مسئله دبهشتي زيور څخه هم نقل کړيده او علامه شامي په دي باندي دا ليکلي دي چي په شبهه او دوکه سره دوطی کولو صورت دادی چي ميړه دا ګمان وکړي چي ماته وطی حلاله ده يا ددريو طلاقو وروسته بي له حلالي نکاح وکړي او وطی وکړي [2] اوکه پوهيږي چي دا مطلقه پرما باندي حرامه ده او بيا وطی ورسره وکړي نو هغه موطوئه بالشبه نه ده او دويم عدت لازم نه دی ومفاده: أنه لو وطئها بعد الثلث في العدة بلا نكاح عالما بحرمتها لا تجب عدة اخرى لأنه زنا الخ [3] ص۲۰۹.

پرغير مدخوله مطلقه باندی عدت نسته ليکن دچا چي ميړه مړ سي پرهغي باندی په هر حال کی عدت سته که مدخوله وي اوکه نه؟ **سوال**: (۱۰۷۲) هر يوه امام ته دسرکار دلوري يو رجسټر دنکاح داندراج لپاره ورکړل سوی دی چي دهغه په لومړی پاڼه باندي دا مسائل دي: (دهغي غير مدخولي ښځي عدت چي ميړه يې مړ سوی وي) دښځي دطلاقولو څخه وروسته دعدت دتيريدو څخه مخکي دخوښيني سره نکاح کول ناجائز دی، آيا په واقعه کي دا مسائلي صحيح او دعمل قابلي دي اوکه نه؟

"**جواب**: دا دواړي مسئلي صحيح دي مطلقه که غير مدخوله او غير خلوت شده وه نو پر

---

[1] الدر المختار على هامش ردالمحتار باب العدة مطلب في وطئ المعتدة بشبهة ج۲ ص۸۳۷ – ۸۳۸ ط. س. ج۳ ص۵۱۸). ظفير

[2] وذلك كالموطوئة للزوج في العدة بعد الثلاث بنكاح وكذا بدونه إذا قال ظننت انها تحل لي او بعد ما أبانها بألفاظ الكناية (رد المحتار باب ايضا ج۲ ص۸۳۷ ط. س. ج۳ ص۵۱۸). ظفير

[3] رد المحتار باب العدة مطلب في وطئ المعتدة بشبهة ج۲ ص۸۳۷، ط. س. ج۳ ص۵۱۸. ظفير

هغي باندي عدت نسته: كما قال الله تعالى: ثم طلقتموهن من قبل أن تمسوهن فما لكم عليهن من عدة تعتدونها. الآية (١) ليكن پرمتوفي عنها زوجها باندي په هر حال كي عدت لازمه ده كه هغه مدخوله وي اوكه نه وي ځكه چي دهغي لپاره دعدت حكم مطلقا ددي ايت: والذين يتوفون منكم، (٢) الآية، څخه ثابت سوى دى.

دمطلقي او متوفي عنها زوجها په عدت كي فرق: سوال: (١٠٧٧) كمه ښځه چي دحمل ناقابله وي دعقيم توب يا نابالغتوب په وجه سره خو دهغي ميړه دوطى قابل وي يا چي كم سړى عنين او نابالغ وي خو دهغه ښځه دحمل قابله وي نو په دواړو صورتونو كي دښځي نه حامله كيدل مسلم دي، نو كله چي دا ډول ښځه كونډه يا مطلقه سي نو پر هغي باندي عدت لازميږي اوكه نه؟ او كه عدت لازميږي نو څومره ورځي؟ او په اول صورت كي ددخول ناممكن حمل څخه وروسته ښځه مطلقه سوه او په دويم صورت كي بي له دخوله ځكه چي دميړه دنابالغتوب يا عنين والي په وجه ددخول احتمال نسته خو بي له دخول څخه يې ښځه طلاقه كړه نو په دواړو صورتونو كي به څومره مهر وركول لازم وي؟

جواب: دميړه دمړكيدو په صورت كي پرښځه باندي دوفات ټول عدت څلور مياشتي او لس ورځي لازم دى كه دخول او خلوت سوى وي اوكه نه وي سوى او مهر پوره لازم دى (٣) او دطلاق په صورت كي كه طلاق تر دخول او تر خلوت صحيحه مخكي وو نو بيا پرښځه باندي عدت لازم نه دى او نيم مهر لازم دى الله ﷻ فرمايلي دي: ثم طلقتموهن من قبل أن تمسوهن فما لكن عليهن من عدة تعتدونها، الآية (٤).

دصحت دخرابيدو له وجي په عدت كي نقل مكاني يعني ځاى بدلول جائز دي: سوال: (١٠٧٨) زيد وفات سو دزيد دښځي دعدت يوه مياشت او اتلس ورځي تيري سوي دي په كم ځاى كي چي اوسي هلته داوبو او هوا دخرابي له امله ناروغياني ډيري دي چي ددي وجهي څخه سخته پريشاني پيدا سويده ددي وجهي دزيد ښځه دځاى دبدلولو لپاره يوازي په دي خيال چي اوبه او هوا بدله كړي او چي كمه پريشاني پيدا سويده هغه ليري سي تياره ده، آيا دعدت په ورځو كي نقل مكاني جائز ده؟

جواب: په رد المحتاركي يې دمعتدي په عذرونو كي دا هم ليكلي دي: قوله ونحو ذلك منه ما في الظهرية لو خافت بالليل من امر الميت والموت ولا أحد معها التحول لو

---

(١) سورة الأحزاب ركوع ٦. ظفير　　　　(٢) سورة البقرة ركوع: ٣١. ظفير

(٣) والمهر يتاكد بأحد معان ثلثة الدخول والخلوة الصحيحة وموت أحد الزوجين سواء كان مسمى او مهر المثل حتى لا يسقط شيء بعد ذلك (عالمگيري مصري الباب السابع في المهر فصل ثاني ج١ ص٢٨٤ ط. س. ج٣ ص٣٥٣). ظفير　　　　(٤) سورة الأحزاب: ركوع ٦. ظفير

الخوف شديدا وإلا فلا الخ [۱] نوسخته بيره دجواز عذر ګڼل سوی دی، ځکه نو په ذکر سوي صورت کي بل ځای ته دهوا او اوبو دتبديلي او دپريشانيو او غمونو دليري کيدو په غرض نقليدل صحيح دي.

زانيه که ميږه لري نو ترطلاق وروسته پرهغي باندي عدت ضروري دی: سوال: (۱۰۷۹) ديوه سړي ښځه زانيه ده ميړه ددي بد چلند ته په کتلو سوه يوه مياشت کيږي چي طلاق ورکړی دی او ترطلاق مخکي ددريو مياشتو راهيسي حامله ده اوکله هم خپل ميړه ته نه ده نژدي سوي او دکم سړي څخه چي يې حمل دی دهغه څخه ميړه ۲۵ زره روپۍ واخستلي او طلاق يې ورکړی دی په داسي حالت کي دزاني سره په عدت کي دننه ددي ښځي نکاح کول صحيح دي اوکه نه؟

جواب: ددي ښځي عدت چي دطلاق په وخت کي حامله وه دحمل وضعه ده کله چي ماشوم پيدا سي په هغه وخت کي عدت پوره کيږي او هغه ماشوم شرعًا داول ميړه بلل کيږي كذا في كتب الفقه، دماشوم ترزيږيدو مخکي ددي ښځي دبل چا سره نکاح کول صحيح نه دي بالکل قطعي حرام دي لکه څنګه چي الله ﷻ فرمايلي دي: ولا تعزموا عقدة النكاح حتى يبلغ الكتاب أجله، الآية [۲] (ژباړه) اوتاسو دنکاح دعقد قصد ترهغه وخته مه کوی چي عدت پوره سي. وقال الله تعالى: وأولات الأحمال أجلهن أن يضعن حملهن، الآية [۳] (ژباړه) او دحمل لرونکو ښځو عدت دا دی چي ماشوم وزيږوي.

په عدت کي نکاح جائزه نه سوه: سوال: (۱۰۸۰) يوه ښځه چي دهغي ميړه ددوو کلونو راهيسي مفقود الخبر وو او برسيره پردي چي نفقه او خبرګيري يې نه کوله بل ملك ته په تللو سره يې دخط او ليك په ذريعه هم رابطه نه ساتله اوس معلومه سوه چي دهغې ميړه دګوړګانوه څخه راغي هغي ته يې دمی په ۴ طلاق نامه وليکله، اودمی په ۲۰ ښځی دويمه نکاح وکړه دا نکاح وسوه اوکه نه؟ دمهر او دعدت دخرچ په اړه هم فيصله سويده.

جواب: که ښځه مدخوله وي يا خلوتِ صحيحه ورسره سوی وي نو دطلاق عدت دري حيضه پوره کول اوکه حيض نه ورته راځي نو دري مياشتی عدت پوره کول لازمي دي په عدت کي دننه نکاح حرامه او باطله ده دا شرعي حکم دی چي په عدت کي دننه نکاح تړل نه دي پکار دا دچا پردعوی وغيره باندي بنا نه دی: قال الله تعالى: ولا تعزموا عقدة النكاح حتى يبلغ الكتب اجله، الآية. [۴]

---

[۱] ردالمحتار باب العدة فصل في الحداد ج۲ ص۸۵۴. ط. س. ج۳ ص۵۳۲. ظفير
[۲] سورة البقرة، رکوع: ۳۰. ظفير
[۳] سورة الطلاق رکوع: ۱. ظفير
[۴] سورة البقرة رکوع ۳۰. ظفير

مرتده تراسلام وروسته دبل سړي سره نکاح کولای سي اوکه نه؟ سوال: (۱۰۸۱) يوي مرتدي دارتداد په حالت کي يو کال يا تردي ډېر وخت تير کی که دا مرتده وروسته تراسلام راوړلو دبل چاسره نکاح کول غواړي نو کولای يي سي اوکه نه؟ ځکه چي دامرتده په دې زمانه کي په موجب دشرعي شريفي داول ميړه لپاره نه مجبورول کيږي اوکه لومړی ميړه دي مرتدي ته دارتداد په حالت کي يا تر ارتداد مخکي دری طلاقه ورکړي نو په دري واړو حالتو کي به تراسلام راوړلو وروسته عدت تيرول لازم وي اوکه نه؟ ځکه چي دارتداد په حالت کي يو کال تير سوی دی په اول صورت کي يوازي ارتداد دی او په دويم او دريم صورت کي طلاق دی، که په دويم او دريم صورت کي ديو مشرك سره نکاح وکړي نو دا دحلالي لپاره معتبريږي او که نه؟

جواب: دمرتدي پراسلام راوړلو او داول ميړه سره پرنکاح کولو باندي دمجبورولو فتوی درمختار نقل کړيده: وتجبر علی الإسلام وعلی تجديد النکاح الخ زجرا لها بمهر يسر الخ وعليه الفتوی (۱) وفي الشامي: ويقع طلاق زوج المرتدة عليها في العدة مستتبعا فائدته من حرمتها عليه بعد الثلث حرمة مغياة بوطی زوج اخر الخ (۲) وفي الدرالمختار ايضا او ذميا لذمية أی ولو کان التحليل لأجل زوجها المسلم کما في البحر شامي. ددي وروستني عبارت څخه معلومه سوه چي دمشرك سره په ښادي کولو او دهغه په وطی کولو سره تحليل کيږي او دمخکني عبارت څخه معلومه سوه چي دارتداد په حالت کي عدت واجبيږي نو تراسلام راوړلو وروسته دنوي عدت تيرولو ته ضرورت نسته.

غير مدخوله په يوه طلاقه باندي بائنه ګرځي پرهغي باندي عدت نسته: سوال: (۱۰۸۲) يوه بالغ عاقل شخص خپلي غير مدخولي منکوحي ته دری طلاقه ورکړه بيا دهغي غير مدخولي ښځي نکاح دبل سړي سره وسوه خو بيا هم هغه غير مدخوله اوسيده او په همدغه حالت کي دويم ميړه هم دری طلاقونه ورکړه او ښځه باکره پاته سوه ددويم طلاق په مهال کي ښځه بالغه سوي وه ايا دا ښځه داول ميړه سره شرعًا نکاح کولای سي او که نه؟ او په دي صورت کي پر هغي عدت تيرول سته اوکه نه؟

جواب: غير مدخولي ته په طلاق ورکولو سره عدت نه لازميږي او غير مدخولي ته که په متفرق ډول دري طلاقه ورکړل سي نو دری طلاقه پرهغي نه واقع کيږي البته که دفعةً په يوه لفظ سره دری طلاقه ورکړل سي مثلا داسي ورته ووايي چي تاته دری طلاقه دي نو دری واقع کيږي او په دريو طلاقو کي دحلالي ضرورت دی او په حلاله کي ددويم ميړه

---

(۱) الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب نکاح الکافر ج۲ ص۵۴۰. ط. س. ج۳ ص۱۹۴. ظفير

(۲) رد المحتار باب نکاح الکافر ج۲ ص۵۳۹ ط. س. ج۳ ص۱۹۳. ظفير

وطی ضروري ده نو که اول میړه دری طلاقه په یوه وار په یوه لفظ سره ورکړي وي لکه ځنګه چې پورته تیر سوه نو ددویم ممړه دوطی کولو څخه پرته اول میړه ددي سره نکاح نه سي کولای او که یې دری طلاقه متفرق ورکړي وي نو غیر مدخوله په یوه طلاق بائنه سوه پاته دوه طلاقه پرهغې باندي واقع نه سول، په دي صورت کي بې له حلالي اول میړه دهغې سره نکاح کولای شي. (۱)

دښځې په موجود والي کي يې دخوښيي سره نکاح وکړه تر خلوت مخکې وربانديې بيله کړل سوه نو پرهغې باندي عدت سته: **سوال**: (۱۰۸۳) رمضان نومي شخص دخپلي خوښيني مهنی نومي ښځې سره دممانعت دوجود سره سره نکاح وکړه په سبب دحرمت دجمع بين الأختين هغه دوروری څخه وایستل سو دنکاح څخه نه لس ورځې وروسته ددوی په مینځ کي تفریق راوستل سو دبیلیدو څخه دری یا څلور ورځې وروسته دهغې نکاح دبل سړي سره وسوه په نکاح کي دګډون کوونکو خلګو دا وینا ده چې رمضان نومي او مهني نومي دواړو قسم وخوړی چې خلوت صحیحه نه دی سوی په دي صورت کي دهغو دواړو وینا په دي هکله صحیح او معتبره ده اوکه نه؟ او عدت ته اړتیا سته اوکه نه؟ دتفریق په دریمه څلورمه ورځ چې کمه نکاح سویده هغه صحیح سوه اوکه نه؟

جواب: په دي کي دعدت اړتیا نسته او دهغوی دواړو وینا دوطی په نیستوالي کي معتبره ده قال في الشامي: وتقدم في باب المهر أن الدخول فی النکاح الفاسد موجب للعدة (۲) نو ددي غیر مدخولي نکاح چې دتفریق په دریمه یا څلورمه ورځ سویده صحیح سوه.

چې خلوت نه وي سوی نو پر مطلقه باندي عدت نسته: **سوال**: (۱۰۸۴) دزید نکاح دهندي سره دصغارت په وخت کي دهغه وارثانو کړي وه دبالغیدو څخه وروسته په خپل مینځ کي دکرکي له امله ددواړو خلوت صحیحه هم ونه سو دنکاح څخه یوولس کاله وروسته اوس زید په عامه مجمع کي دری طلاقه ورکړه او طلاق نامه یې ولیکله نو پرهنده باندي عدت لازم دی اوکه له عدته څخه پرته بله نکاح کولای سي؟

جواب: هندي ته په دي صورت کي دعدت تیرولو ضرروت نسته دعدت دپوره کولو څخه پرته دویمه نکاح کولای سي، قال الله تعالی: ثم طلقتموهن من قبل أن تمسوهن فما لکم

---

(۱) قال لزوجته غیر المدخول بها أنت طالق الخ ثلاثا الخ وقعن لما تقرر أنه حتی ذکر العدد کان الوقوع به الخ وإن فرق الخ بانت بالأولی لا إلی عدة ولذا لم تقع الثانية (الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب طلاق غیر المدخول بها ج۲ ص۲۲۴ ط. س. ج۳ ص۲۸۴ - ۲۸۶). ظفیر

(۲) رد المحتار باب العدة مطلب في النکاح الفاسد والباطل ج۲ ص۸۳۵ ط. س. ج۳ ص۵۱۲. ظفیر

علیهن من عدة تعتدونها، الآیة. (۱)

په عدت کي دهیڅ مصلحت دپاره هم نکاح جائز نه ده: سوال: (۱۰۸۵) دیوي ښځي څلور پنځه ورځي وسوي چي خپل عقد یی دلیور سره وکی جماع نه ده سوي دا ښځه دهغه څخه ناخوښه ده اوخپله نکاح دبل چا سره کول غواړي که دهغه سړي څخه طلاق واخلي او فورا نکاح وکړي او صحبت دعدت ترتیریدو وروسته وکړي نو دا ډول عقد کول جائز دي اوکه نه؟ دا عقد مصلحةً کول کیږي.

جواب: په عدت کي نکاح په هیڅ ډول او دهیڅ مصلحت لپاره صحیح نه ده دا ډول نکاح قطعي حرامه او باطله ده هیڅکله دي دیوه دنیوي مصلحت لپاره دداډول لویی گناه قصد ونه کړل سي (۲) خو عدت پرمدخوله باندي واجبیږي نوکه تر دخول او خلوت مخکي دهغه څخه طلاق واخلي او هغه طلاق ورکړي نو مطلقه غیر مدخوله سمدستي دویمه نکاح کولای سي. کما قال الله تعالی: ثم طلقتموهن من قبل أن تمسوهن فما لکم علیهن من عدة تعتدونها، الآیة. (۳)

پرغیر مدخوله باندي عدت نسته خو پر مدخوله باندي عدت سته: سوال: (۱۰۸۶) یوه سړي خپلي ښځي ته په دي ډول طلاق ورکړی چي په اوله ناسته کي یوطلاق دمهر معافي یو ځل په دویمه ناسته کي یو طلاق بیا دمهر بخښنه په دریمه جلسه کي یو طلاق دمهر له بخښني پرته، په دي صورت کي مهر معاف سو او طلاق واقع سو او که نه؟ او عدت لازم سر او که نه؟

جواب: په دي صورت کي دری طلاقه پردي ښځه واقع سوه او مهر ساقط سو او ښځه که مدخوله وه نو عدت پرهغي لازم دی او عدت دطلاق دری حیضه دی اوکمي ښځي ته چي حیض نه ورځي دهغي عدت دری میاشتي دی. (۴)

ترخلوت وروسته عدت سته که څه هم دیوکال ترعلیحده اوسیدو وروسته یی طلاق ورکړی وي:

سوال: (۱۰۸۷) کمه ښځه چي دمیړه څخه راغلي وي او دخپل مور اوپلار کره یی یو کال تیرسوی وي اواوس دهغي میړه هغي ته طلاق ورکړي نو په دي صورت کي پرهغي ښځي

---

(۱) سورة الأحزاب: ۷. ظفیر

(۲) اما نکاح منکوحة الغیر ومعتدته الخ فلم یقل أحد بجوازه فلم ینعقد اصلا (شامي باب العدة ج۲ ص۸۲۵ ط. س. ج۳ ص۵۱۶). ظفیر

(۳) سورة الأحزاب: رکوع: ۷. ظفیر

(۴) تحیض لطلاق الخ بعد الدخول حقیقة او حکما الخ ثلاث حیض کوامل الخ والعدة في من لم تحض لصغر او کبر او بلغت بالسن لم تحض الخ ثلاثة أشهر بالأهلة لو في الغرة وإلا فبالأیام (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب العدة ج۲ ص۸۲۵ ط. س. ج۳ ص۵۰۴). ظفیر

عدت ستہ اوکہ نہ؟

جواب: کہ خلوت یا صحبت سوی وي نو عدت لازم دی. ([1])

په لاندي ليکل سوو صورتونوکي عدت: **سوال**: (۱۰۸۸) (۱) دکمي ښځي چي ماشوم پيدا سي او څلور ورځي وروسته دهغي ميړه مړ سي دهغي عدت څومره دی؟

(۲) ديوه سړي او ښځي تر مينځ جدايي راغله په داسي ډول چي ښځه دپلار کورته ولاړه يو کال وروسته ميړه مړ سو، په دي موده کي دهغي ميړه دهغي کورته نه ورغی نو پردي ښځه باندي عدت ستہ اوکہ نہ؟

(۳) دنابالغي ښځي ميړه مړ سو نو عدتورباندي ستہ اوکہ نہ؟

(۴) يوه ښځه دميړه سره دجنگ کولو وروسته دپلار کورته راغله هلته يي پنځه کاله تير سوه بيا يي طلاق ورکي پر هغي باندي عدت ستہ اوکہ نہ؟

جواب: (۱ – ۲) په لومړيو دوو صورتونو کي دهغي ښځي عدت څلور مياشتي او لس ورځي دی ([2]).

(۳) او په دريم صورت کي هم عدت څلور مياشتي او لس ورځي دی. ([3])

(۴) په څلورم صورت کي که هغه ښځه مدخوله وه يا خلوت ورسره سوی وو نو دهغي عدت دری حيضه دی که حيض ورتلی اوکه نه ورته راتلی نو دری مياشتي. ([4])

دنامرد پرمطلقه عدت ستہ: **سوال**: (۱۰۸۹) زيد نامرد دی هغه غواړي چي خپلي ښځي هندي ته طلاق ورکړي او هنده هم طلاق غواړي وروسته ترطلاق دبلي نکاح لپاره هنده عدت ته ضرورت لري اوکہ نہ؟

جواب: که خلوت سوی وي اګر که صحبت نه وي سوی نو پرهنده باندي دطلاق عدت لازم دی، او دطلاق عدت دهغي ښځي لپاره چي هغي ته حيض ورځي دری حيضه دی نو هنده چي دطلاق څخه وروسته عدت تير کړي بيا بله نکاح کولای سي، کما في الدر المختار باب المهر والخلوة الخ کالوطی الخ ولو کان الزوج مجبوبا او عنينا او خصيا الخ ([5]).

([1]) وسبب وجوبها عقد النكاح المتاكد بالتسليم وماجری مجراه من موت او خلوة أی صحيحة (ايضا ج۲ ص۸۲۴، ط. س. ج۳ ص۵۰۴). ظفير

([2]) والعدة للموت اربعة اشهر بالأهلة لو في الغرة كما مر وعشر من الأيام بشرط بقاء النكاح صحيحا إلى الموت مطلقا وطئت او لا ولو صغيرة (الدر المختار على هامش ردالمحتار باب العدة ج۲ ص۸۳۵. ط. س. ج۳ ص۵۱۰). ظفير

([3]) والعدة للموت اربعة اشهر الخ وعشر الخ ولو صغيرة (ايضا ط. س. ج۳ ص ۵۱۰). ظفير

([4]) وسبب وجوبها عقد النكاح المتاكد بالتسليم وما جری مجراه من موت أوخلوة الخ (ايضا ج۲ ص۸۲۴. ط. س. ج۳ ص۵۵۴). ظفير

([5]) الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب المهر ج۲ ص۴۲۸، ط.س. ج۳ ص ۱۱۴. ظفير

په عدت كي دښځي لپاره ښكلا او سينګار صحيح نه دي: **سوال**: (۱۰۹۰) يوه كونډه دعدت په حالت كي سينګار او زينت كوي بلكه په ډيره لوړه كچه سره او ورځخه منعه كيږي هم نه او برملا ديوه ځای ځخه بل ځای ته ځي آيا دداسي ښځی نكاح تر عدت مخكي كيدی سي؟

جواب: په عدت كي دننه نكاح كول باطل دي او ښځي ته دعدت په ورځو كي چي ځلور مياشتي اولس ورځي دي (۱) زيب او زينت كول او رنګه جامي اغوستل لكه سرې اوژيړي او زر او وريښميني جامي او خوشبويي او نور دا ډول شيان استعمالول جائز نه دي په عالمكري كي دي: على المبتولة والمتوفى عنها زوجها إذا كانت بالغة مسلمة الحداد في عدتها (۲) اوپه حديث كي دحضرت عائشي ﷺ ځخه روايت دی: أن النبى ﷺ قال: لا يحل لإمرأة تؤمن بالله واليوم الأخر أن تحد على ميت فوق ثلث إلا على زوج اربعة أشهر وعشرا (۳) او هغي ته دعدت په ځای كي اوسيدل لازم دي اوكه ديو ضروري كار لپاره دبهر وتلو ضرورت وو نو په ورځ كي يا دشپي په يوه برخه كي وتل صحيح دي په عالمګيري كي دي: المتوفى عنها زوجها تخرج نهارا وبعض الليل ولا تبيت في غير منزلها (۴) اوپه عدت كي دننه نكاح كول صحيح نه دي.

پنځه كاله دجلا جلا اوسيدلو سره سره به هم وروسته دخلوت ځخه عدت تيروي: **سوال**: (۱۰۹۱) يوه انجلۍ چي دهغي عمر اته كاله وو دهغي پلار په خپله خوښه ديوه سړي سره دهغي نكاح كړي وه ددي ځخه وروسته هغه تر يوه كال لږ ځه كمه موده دخسرګنۍ كره واوسيده بيا په يو وجه دوالدينو كره راغله اوس تقريبا پنځه كلونه وسول چي هغه بيرته خسرګنۍ ته نه ده تللي او اوس دزوجينو تر مينځ دمخالفت له امله دهغي ميړه هغي ته طلاق وركی او دځان ځخه يې بيله كړه ايا ددي طلاقي سوي انجلۍ ددويمي نكاح لپاره شرعًا پرهغي باندي عدت سته؟ كه وي نو ځومره به وي؟

جواب: كه ميړه دهغي سره وطی يا خلوت كړی وي نو عدت پرهغي لازم دی كه دهغي حيض راځي نو دهغي عدت دری حيضه دی اوكه تر اوسه دهغي حيض نه وي راغلی نو دهغي عدت دری مياشتي دی اوكه دهغي سره وطي او خلوت نه وي سوی نو هيڅ عدت

(۱) أما نكاح منكوحة الغير ومعتدته الخ لم يقل أحد بجوازه فلم ينعقد اصلا (رد المحتار باب العدة مطلب في النكاح الفاسد والباطل ج۲ ص۸۳۵ ط. س. ج۳ ص۵۱۲). ظفير

(۲) عالمګيري مصري الباب الرابع عشر في الحداد ص۴۷۲ ج۳ ط. ماجديه ج۳ ص۵۳۳. ظفير

(۳) مشكوة عن البخاري ومسلم باب العدة ص۲۸۸. ظفير

(۴) عالمګيري الباب الرابع عشر في الحداد ج۲ ص۴۷۷، ط. ماجدية ج۲ ص۵۳۵. ظفير

لازم نه دی (۱) کما قال الله تعالی: ثم طلقتموهن من قبل أن تمسوهن فما لکم علیهن من عدة تعتدونها فمتعوهن وسرحوهن سراحًا جمیلاً. (۲)

دعدت په ورځو کی چی کمه ښځه دزنا څخه حامله وي دهغې عدت دحمل وضعه ده: سوال:

(۱۰۹۲) یوي ښځي دطلاق دعدت په اوږدو کي دیوه سړي سره زنا وکړه دچا سره چي دي دعدت دتیریدو وروسته نکاح کول غوښتل خو دزنا څخه هغه حامله سوه ښځه اوسړی دواړه په دي خبره اقرار کوونکي یقین لرونکي او یقین ورکوونکي دي چي حمل دطلاق ورکوونکي نه دی بلکه زموږ ددواړو دفعل څخه نطفي قرار نیولی دی اوس ښځي ته دطلاق دعدت دپوره کولو څخه وروسته دهغه سړي سره نکاح کول ښایي اوکه دحمل تر وضعي وروسته؟ او ماشوم به شرعًا دچا دنسب څخه ګڼل کیږي او دابه څرګنده ده چي ښځي ته طلاق ورکوونکی میړه دمردانیی قوت څخه بي برخي وو، چي ددي وجهي څخه مجبورا هغه ښځي ته طلاق ورکی په همدي بنسټ باندي ښځه غواړي چي که دحمل تر وضعي مخکي یو صورت دنکاح کولو وي نو زما پرده به وسي ددي جواب مهرباني وکړئ لږ ژر راکړئ!

جواب: ددي مطلقي عدت په دي صورت کي وضعه دحمل ده دحمل تروضعي وروسته ددویم سړي سره نکاح صحیح کیږي دحمل تر وضعي مخکي دویمه نکاح صحیح نه ده او دطلاق دوخت څخه په دوو کلو کي دننه که ماشوم وزیږیدی نو اګر که بائن طلاق وي یا دری طلاقه وي ددي ماشوم نسب داول میړه څخه ثابتیږي ددعوي کولو څخه پرته: کما یثبت بلا دعوة احتیاطًا في مبتوتة جائت به لأقل منها من وقت الطلاق الخ ولم تقر بمضی عدة الخ درمختار ملخصا. (۳)

کله چي یی طلاق ورکړی وو دهغه وخته څخه عدت پیل سوه داول لیک ورکولو دوخت څخه عدت نه ده پیل سوی: سوال: (۱۰۹۳) زید دداسي ښځي سره نکاح وکړه چي دهغي یو بل میړه دمخکي څخه موجود وو دنکاح کولو څخه وروسته لومړنی دعویدار سو منکوحه دلومړي میړه کورته دتللو څخه منډي وهي په داسي حالت کي چي کله ددواړو میړونو تر مینځ جنجال پیل سو نو کلیوال مجبور سوه ددي جنجال درفع کیدو لپاره یی دلومړي

(۱) رجل تزوج امرأة نکاحا جائزا فطلقها بعد الدخول او بعد الخلوة الصحیحة کان علیها العدة کذا في فتاوی قاضي خان الخ فمن تحیض فعدتها ثلثة اقراء الخ والعدة لمن لم تحض لصغر او کبر او بلغت بالسن ولم تحض ثلثة أشهر کذا في النقایة (عالمگیري کشوري باب العدة ج۲ ص۵۴۲ – ۵۴۳. ط ماجدیه ج۱ ص۵۲۲). ظفیر

(۲) سورة الأحزاب رکوع: ۶. ظفیر

(۳) الدر المختار علی هامش ردالمحتار فصل فی ثبوت النسب ج۲ ص۸۵۸ ط. س. ج۳ ص۵۴۱. ظفیر

میره ځخه طلاق واخستی او په طلاقنامه کي لاندي لیکل سوی مضمون دځو شاهدانو په وړاندي ولیکل سو. مضمون دا دی: (ما خپلي ښځي ته طلاق ورکړی دی چي دهغه شپږ میاشتي وتلي دي اوس زه هیڅ دعوه نه لرم. تاریخ ۱۵ فروري کال ۱۹۱۹م) واقعیت داسي دی چي په اصل کي طلاقنامه شپږ میاشتي مخکي لکه ځنګه چي پردي کاغذ باندي څرګنده سوه نه ده ورکړل سوي اوس دطلاق ورکولو ځخه وروسته ښځي ته دعدت ورځي پوره کول ښايي اوکه نه؟ او هغه مخکي سوي نکاح چي دطلاقنامې دلیکلو ځخه څو ورځي مخکي تړل سویده صحیح ګڼل کیږي او که نه؟

جواب: طلاق هغه وخت واقع سو چي کله میره طلاق ورکړی وی نوکه یی شپږ میاشتي مخکي طلاق نه وو ورکړی او دا یي غلط لیکلي وي نو اوس طلاق واقع سو او عدت تردي وروسته دری حیضه تیرول په کار دي ترهغه وروسته دي دویمه نکاح وکړل سي ترطلاق او عدت له مخه چي کمه نکاح سویده هغه صحیح نه سوه. (١)

<u>په عدت کي به دورځو شمېر په قمري حساب وي اوکه په کم؟</u> سوال: (۱۰۹۴) په بهشتي زیور او غایة الأوطار کي دي چي دصغیري او آیسي او بالغي غیر حائضي دطلاق او دوفات دعدت شمیر که دطلاق یا وفات په اول تاریخ کي واقع سوی وي نو دهري میاشتي حساب به په سپوږمیز (قمري) میاشتو سره وي او که دمیاشتي په مینځ کي واقع سوي وي نو دهري میاشتي حساب به دیرش ورځي وي، انتهی. دا ډول شمیرنه صحیح ده اوکه نه؟

جواب: په همدي باندي عمل کول په کاردي: قال في ردالمحتار فی المحیط إذا إتفق عدة الطلاق والموت في غرة الشهر اعتبرت الشهور بالأهلة وإن نقصت عن العدد وإن اتفق في وسط الشهر فعند الإمام اعتبر بالأیام فتعتد في الطلاق بتسعین یوما. (٢)

<u>دخلعي عدت</u>: سوال: (۱۰۹۵) (۱) دخلعي عدت دحنفیانو په نزد څومره دی؟ (۲) دطلاق دعدت په مینځ کي که په وچ زور سره نکاح وکړي نو دولي او قاضي او دشاهد او حاضرینو په نکاح کي څه فتور راځي او دنکاح دتجدید ضرورت سته اوکه نه؟ (۳) که یو څوك ددا ډول نکاح مانع سي او دا کار دشریعت مخالف وګڼي او ددي مجلسه ولاړ سي نو هغه عند الله اجر تر لاسه کولای سي اوکه نه؟

جواب: خلعه دحنفیانو په نزد بائن طلاق دی نو دهغي عدت دطلاق دعدت غوندي دری

---

(١) وأما نكاح منكوحة الغير ومعتدته فلم يقل أحد بجوازه فلم ينعقد اصلا (رد المحتار باب العدة ج۲ ص۸۳۵ ط. س. ج۳ ص۵۱۲). ظفیر

(٢) ایضا، ج۲ ص۸۲۹ ط. س. ج۳ ص۵۰۹. ظفیر

حیضه دي دحائضي لپاره، او درې میاشتې دي دغیر حائضي لپاره په درمختار کي دي: وحکمه أن الواقع به الخ طلاق بائن الخ (۱) (۲) په عدت کي دننه دبل سړي سره نکاح کول باطل دي (۲) او نکاح کوونکی او دهغی مرستندویان ټول فاسقان اوګنهګار دي توبه دي وکړي لیکن دهغوی په نکاح کي هیڅ فتور او خلل نه راځي ځکه چي دنکاح ماتیدل دهغه په مرتد کیدو باندي مرتبیږي او دا ارتداد نه دی (۳) دا سړی داجر او ثواب څښتن دی، ځکه ده دمنکر څخه انکار وکړی.

دنامرد پرطلاقه سوې ښځه باندې عدت: **سوال**: (۱۰۹۲) دیوي ښځي میړه دنکاح څخه وروسته اوه کاله کیږي چي تللی وو ښځه یې پرې ایښې وه او هیڅ درك یې نه وو اوس یې په اجمیر کي درك معلوم سو هغه چي کورته راوستل سو کله چي دښځي په اړه پوښتنه ورڅخه وسوه ده جواب ورکی چي زه دښځي قابل نه یم او دا هم دښځي څخه معلومه سوه چي هیڅکله یې هم صحبت نه دی کړی ذکر سوي میړه دځلورو شاهدانو په مخ کي ښځي ته طلاق ورکی ددي څخه معلومه سوه چي ښځه حامله نه ده، دطلاق څخه یوه میاشت وروسته دذکر سوي ښځي نکاح دبل سړي سره وسوه دحیض ورځي دپخوا په شان رواني دي دویمه نکاح چي دذکر سوي ښځي وسوه هغه شرعا جائزه ده اوکه نه؟ او اوس ذکر سوي ښځي ته دعدت ورځي پوره کول په کار دي اوکه نه؟

جواب: ذکر سوي نکاح چي دطلاق څخه یوه میاشت وروسته وسوه ناجائزه او باطله ده ترعدت وروسته نکاح صحیح کیږي او دطلاق عدت درې حیضه ده دا ښځه دي ددویم میړه څخه بیله کړل سي چي کله درې حیضه پوره کړي بیا دي نکاح وتړل سي. (۳)

کمه منکوحه چي دزاني سره دځو کلونو راهیسي وي ترطلاق وروسته پرهغې عدت سته اوکه نه؟ **سوال**: (۱۰۹۷) یوي ښځي خپل میړه پرېښودی او دبل چا سره دیاراني په ډول ولاړه دي یار هغه دځان سره درې څلور کاله وساتله، او په دي هڅو کي وو چي میړه دي ته طلاق ورکړي ترڅو زه ددي ښځي سره نکاح وکړم آخر یې میړه هغې ته طلاق ورکی نو آیا دا مطلقه ښځه عدت تیره کړي او که نه؟ او دعدت دتیرولو په وخت کي دا شبهه پیدا

---

(۱) الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب الخلع ج۲ ص۷۷۰. ط. س. ج۳ ص۴۴. ظفیر

(۲) أما نکاح منکوحة الغیر ومعتدته الخ فلم یقل أحد بجوازه فلم ینعقد اصلا (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب العدة ج۲ ص۸۳۵. ط. س. ج۳ ص۵۱۲). ظفیر

(۳) وخلوة المجبوب خلوة صحیحة عند ابي حنیفة وخلوة العنین والخصي خلوة صحیحة کذا في الذخیرة (عالمګیري کشوري باب المهر فصل ثاني ج۲ ص۳۱۵. ط. ماجدیه ج۱ ص ۳۵۵) وأما نکاح منکوحة الغیر ومعتدته الخ فلم یقل أحد بجوازه (ردالمحتار باب العدة ج۲ ص۸۳۵. ط. س. ج۳ ص۵۱۲). ظفیر

کيږي چي دا ښځه خو دخپل ميړه څخه دري ځلور کاله بيله اوسيدلی ده او په دي ټوله موده کي ميړه دهغي سره وطی نه دي کړي او عدت په شرع کي درحم داستبراء لپاره مقررسوی ده اوپه دي صورت کي خو استبراء حاصله ده؟

جواب: دا ښځه چي کله دخپل ميړه دلوري موطوئه ده يا يې خلوت صحيحه ورسره سوی وي نو عدت پرهغي باندي لازمه ده ځکه چي عدت په اصل کي دنکاح دنعمت دفوت کيدو په وجه ده او دنکاح پرتللو باندي دغم اظهار دی همدا وجه ده چي يوازي په خلوت سره هم عدت لازميږي (۱) چي هلته په ځينو وختونو کي دنکاح دحرمت دفوتيدو څخه پرته بل هيڅ شی نه وي. فقط

<u>دکونډې ښځې نکاح دحمل تر وضعي مخکي جائزه نه ده</u>: **سوال**: (۱۰۹۸) دکونډي ښځي ددوو مياشتو حمل دی نکاح يې صحيح ده اوکه نه؟ اوکه دحمل تر وضعي وروسته نکاح صحيح ده؟

جواب: دهغي نکاح دحمل تر وضعي مخکي صحيح نه ده دحمل له وضعي څخه وروسته نکاح کول ورته په کار دي. (۲)

<u>په عدت کی دساتلو په نيت سره هم نکاح جائز نه ده</u>: **سوال**: (۱۰۹۹) که ديوي کونډي نکاح په عدت کي دننه په دي فکر وکړل سي چي تر عدته پوري څوك دا خطا نه کړي يا بله نکاح ورباندي ونه کړي يا صحبت ورسره ونه کړي نو دا نکاح صحيح ده ادکه نه؟

جواب: په عدت کي دننه په هيڅ ډول او په هيڅ فکر سره نکاح کول صحيح نه دي، دا نکاح بالکل باطله ده او داسي کوونکی فاسق او عاصي دی. (۳)

<u>ښځه چی هرچيری اوسيدله که څه هم هغه يې دميړه کور نه وو هلته دی عدت تيره کړي</u>:

سوال: (۱۱۰۰) کمه ښځه چي دخپل پلار يا دبل چا په کورکي اوسيږي دميړه سره يا بي له ميړه، او دميړه په خوښه يا دهغه دخوښي پرته کله چي دهغي ميړه مړ سي نو هغي ته هلته عدت تيرول په کار دي چي چيري اوسيږي اوکه دميړه کورته ولاړه سي اوکه ددفن څخه مخکي يا وروسته هغه دميړه کور ته ولاړه سي نو هغه عدت چيري پوره کړي آيا دميړه په کورکي اوکه چيري چي اوسيدله هلته؟

---

(۱) وسبب وجوبها عقد النكاح المتاكد بالتسليم وما جرى مجراه من موت او خلوة أي صحيحة (الدر المختار على هامش ردالمحتار باب العدة ج۲ ص۸۲۴. ط. س. ج۳ ۵۱۲). ظفير

(۲) وليس للمعتدة بالحمل مدة سواء ولدت بعد الطلاق او الموت بيوم او اقل الخ وشرط انقضاء هذه العدة أن يكون ما وضعت قد استبان خلقه (عالمگيري كشوري باب العدة ج۲ ص۵۴۵ ط ماجديه ج۱ ص ۵۲۸). ظفير

(۳) اما نكاح منكوحة الغير ومعتدته الخ فلم يقل احد بجوازه فلم ينعقد اصلا (رد المحتار باب المهر ج۲ ص۴۸۲. ط. س. ج۳ ص۱۳۲). ظفير

جواب: په درمختارکي دي: وتعتدان أی معتدة طلاق وموت في بيت وجبت فيه الخ (درمختار) هو ما يضاف اليهما بالسکنی قبل الفرقة ولو غير بيت الزوج الخ ([1]) شامي. ددي حاصل دادی چي په کم کور کي چي ښځه دېخوا څخه اوسيدله اګرکه هغه دميړه کور نه وو عدت دي په هغه کورکي پوره کړي يعني اګرکه ميړه هلته نه وو لکه څنګه چي دمن بيتها په شرح کي شامي ليکلي دي: قوله من بيتها متعلق بقوله ولا تخرج والمراد به ما يضاف إليهما بالسکنی حال وقوع الفرقة والموت بدايه سواء کان مملوکا للزوج او غيره حتی لو کان غائبا وهی في دار باجرة قادر علی دفعها فليس لها أن تخرج الخ. ([2])

پرنابالغي مطلقي باندي هم تر خولت ورروسته عدت سته: **سوال**: (۱۱۰۱) (۱) بالغ زيد تر را ودولو مخکي نابالغي هندي ته طلاق ورکی په دي صورت کي پرهنده نابالغه باندي دطلاق عدت واجب دی او که نه؟

(۲) هنده نابالغه دميره سره اوسيده خو هغه دصحبت قابله نه وه نو په دي صورت کي به دطلاق عدت وي اوکه نه؟

جواب: بالغ ميړه که خپلي نابالغي ښځي ته تر خلوت مخکي طلاق ورکی نو پرنابالغه باندي عدت لازم نه دی، قال الله تعالی: ثم طلقتموهن من قبل أن تمسوهن فما لکم عليهن من عدة تعتدونها، الآية. ([3])

(۲) په خلوت کيدلو سره عدت لازميږي اګرکه صحبت نه وي سوی. کذا صرح به في الشامی. ([4])

ميره اقرار وکی چي شپږ مياشتي مخکي مي طلاق ورکی نو عدت دهغه وخته څخه شميرل کيږي: **سوال**: (۱۱۰۲) که يو سړی دخلګو ديوه ټولګی په مخ کي اقرار وکی چي شپږ مياشتي مخکي مي طلاق ورکی نو په دي صورت کي به عدت داقرار دوختة څخه شميرل کيږي اوکه دشپږو تيرو سوو مياشتو څخه ؟

جواب: که هغه په حقيقت کي شپږ مياشتي مخـکي په تکلم سره طلاق نه وي ورکړی نو

([1]) رد المحتار فصل في الحداد ج۲ ص۸۵۴. ط. س. ج۳ ص۵۳۶. ظفير

([2]) رد المحتار فصل في الحداد ج۲ ص۸۵۳. ط. س. ج۳ ص۵۳۶. ظفير

([3]) سورة الأحزاب. رکوع ۷. ظفير

([4]) وسبب وجوبها عقد النکاح المتاکد بالتسليم وما جری مجراه من موت او خلوة (الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب العدة ج۲ ص۸۲۴ ط. س. ج۳ ص۵۰۳) والخلوة کالوطئ فيما يجئ أی من الأحکام (ايضا باب المهر ج۲ ص۴۲۵. ط. س. ج۳ ص۱۱۴). ظفير

دی به په دي اقرار کي کاذب وي اوطلاق به في الحال واقع سي عدت هم ددي وخته يعني دطلاق دوقوع دوخته څخه شمارل کيږي: لأن الإنشاء في الماضي انشاء في الحال درمختار، ولا يمكن تصحيحه إخبارا لكذبه الخ شامي ([1]) اوکه په حقيقت کي ميړه تر دي شپږ مياشتي مخکي طلاق ورکړی وي نو عدت دهغه وخت څخه شميرل کيږي لنډه دا چي عدت دطلاق دوقوع دوخت څخه شميرل کيږي. ([2])

آيا دکرايي په کور کی عدت تيرول ضروري دي؟ **سوال**: (۱۱۰۳) يوه ښځه چي ميړه يي مړ سوی دی دعدت لپاره دخپلو والدينو کورته ځي ځکه چي دهغي ميړه دکرايی په کورکي اوسيدی او ښځه مسکينه ده دخوراك ځيښاك وس هم نه لري، آيا دا صحيح ده؟

جواب: که ښځه دهغه کور کرايه ورکولای سي او دا ددي وس او قدرت لري نو په عدت کي بل کورته تلل صحيح نه دي. (اوکه ددي وس نه لري نو بيا بل کور ته تللای سي ([3])، ظفير).

په عدت کی که ښځه دزنا څخه حامله سي نو دهغې عدت به وضع دحمل وي: **سوال**: (۱۱۰۴) يوه سړي خپلي ښځي حسنو نومي ته طلاق ورکی چي کله يی طلاق ورکوی په هغه وخت کي دا حامله نه وه دعدت په زمانه کي هغي زنا وکړه او دهغي زنا څخه حامله سوه نو اوس به دهغي عدت څه ډول وي؟ او حسنو نومي ښځي اوس ديوه بل سړي قاسم نومي سره نکاح کول غواړي دا جواز لري او که نه؟

جواب: په درمختار او شامي کي دي چي که په عدت کي مطلقه دزنا څخه حامله سوه نو دهغي عدت وضع دحمل ده ([4]) واعلم أن المعتدة لو حملت في عدتها ذكر الكرخي أن عدتها وضع الحمل ويفصل والذي ذكر محمد أن هذا في عدة الطلاق الخ شامي ([5]) نو دماشوم دپيدا کيدو څخه وروسته به يې دقاسم نومي سره نکاح جائزه وي او ترهغه دمخه جائزه نه ده.

مطلقه دعدت تر تيريدو وروسته نکاح کولای سي: **سوال**: (۱۱۰۵) يوي ښځي ته دهغي ميړه

([1]) ردالمحتار. ظفير

([2])ابتداء العدة في الطلاق عقب الطلاق (عالمگيري‌كشوري باب العدة ج۲ص۵۴۸. ط.ماجديه ج۱ص۵۳۱). ظ

([3]) وتعتدان معتدة طلاق وموت في بيت وجبت فيه الخ إلا أن تخرج وينهدم المنزل الخ او لا تجد كراء البيت ونحو ذلك من الضرورات فتخرج لأقرب موضع اليه (درمختار) قوله لا تجد الخ أفاد انها لو قدرت عليه لزمها مالها (ردالمحتار باب الحداد ج۲ ص۸۵۴. ط. س. ج۳ ص۵۳۲). ظفير

([4]) فإذا حبلت في العدة تنقضي بوضعه سواء كان من المطلق او من زنا او من نكاح فاسد إذا ولدته بعد المتاركة لا قبلها كما قدمناه (رد المحتار باب العدة ج۲ ص ۸۳. ط. س. ج۳ ص۵۱۹). ظفير

([5]) أيضا. ج۳ ص۸۳۱ ط. س. ج۳ ص۵۱۱. ظفير

ځلور کاله کیږي چي طلاق ورکړی وو اوس ښځه نکاح کول غواړي نو جواز لري او که نه؟

جواب: اوس دهغي نکاح صحیح ده خامخا دي وکړي دا ډیره ښه خبره ده.

دعدت په زمانه کی نکاح باطله ده او دعدت څخه وروسته صحیح ده: **سوال**: (۱۱۰۶) زید مړ سو دوفات دعدت دتیرولو څخه مخکي دهغه ښځي دویمه نکاح وکړه کله چي دزید عدت تیره سوه په هغه وخت کي ښځي دریمه نکاح وکړه وروستنی نکاح صحیح سوه او که نه؟

جواب: کمه نکاح چي په عدت کي سوي وي هغه باطله وي نو وروستنۍ نکاح صحیح ده. ([1])

په درو طلاقو باندي دطلاقي سوي ښځي عدت: **سوال**: (۱۱۰۷) کمي ښځي ته چي په یوه مجلس کي دهغي میړه دری طلاقه ورکړي نو دهغي مطلقي عدت په څومره موده وي؟

جواب: دری حیضه ([2]). فقط

دنامرد پر ښځه دخلوت څخه وروسته عدت لازمه ده: **سوال**: (۱۱۰۸) دیوي ښځي میړه چي نامرد دی خپلي ښځي ته یی طلاق ورکی ښځه دویمه نکاح کول غواړي په دي صورت کي پردي ښځه عدت لازمه ده او که نه؟

جواب: که دنامرد میړه سره خلوت سوی وي او ترهغه وروسته یی طلاق ورکړی وي نو عدت لازمه ده په عدت کي دننه دبل چا سره نکاح کول صحیح نه دي: قال في الدر المختار والخلوة الخ كالوطئ الخ ولو كان الزوج مجبوبا او عنينا الخ. ([3])

دمعتدي واده ته ورتل صحیح نه دي: **سوال**: (۱۱۰۹) دهغي ښځه چي میړه یی مړ سوی وي په عدت کي دخپلو ورونو یا والدینو کورته دیو واده یا بل پروګرام لپاره دورځي یا دشپي په یوه برخه کي تلل او بیرته په شپه کي خپل کور ته راتلل جائز دي او که نه؟

جواب: هغي ښځي ته چي میړه یی وفات وي په عدت کي دورځي یا دشپي په یوه برخه کي چیری دتللو اجازه چي فقهاوو ورکړي ده هغه دنفقي یا بل دا ډول ضرورت په وجهه یې ورکړیده که دا ضرورت نه وو نو بیا دا لکه مطلقه داسي ده چي په عدت کي دهغي

([1]) اما نكاح منكوحة الغير ومعتدته (إلى قوله) فلم يقل احد بجوازه فلم ينعقد اصلا (رد المحتار باب المهر ج۲ ص ۴۸۲ ط. س. ج۳ ص۱۳۲). ظفير

([2]) وهي (أي المعتدة) في حق حرة تحيض لطلاق او فسخ بعد الدخول حقيقة او حكما ثلاث حيض كوامل (الدر المختار على هامش ردالمحتار ج۲ ص ۸۲۵ باب العدة ط. س. ج۳ ص۵۰۴). ظفير

([3]) الدر المختار على هامش الطحطاوي باب المهر ج۲ ص۵۳ - ۵۴. ظفير

وتل او یوځای تلل صحیح نه دی لکه څنګه چي په درمختارکي دي: حتی لو کان عندها کفایتها صارت کالمطلقة فلا یحل لها الخروج (۱) فتح، او همدا ډول په شامي کي دفتح القدیر څخه منقول دي نو دهغي ښځي چي میړه یې مړ وي دپلار یا ورور کورته په واده یا بل پروګرام کي دورځي تلل هم صحیح نه دي.

پرمیړه باندي عدت نسته: **سوال**: (۱۱۱۰) زما دښځي دمرګ څخه (۳۳) ورځي وروسته زما اخښي دخپلي لورنکاح زما سره وکړه آیا ماته دښځو په ډول دعدت تیرولو انتظار کول په کار وو اوکه نه؟

جواب: په سړی باندی هیڅ عده نسته، وروسته دوفات دښځی څخه ددی دخور، وریری او خورزی سره فوراً نکاح کولی سی اوصحیح (۲) ده. فقط

دشیدو ورکوونکی ښځی عده هم دری حیضه دي: **سوال**: (۱۱۱۱) یوی ښځی ته ددی خاوند طلاق ورکی او دښځی په غیږه کی بچی شیدی خوړونکی موجود دی اوهغه ددی شیدی چښی، نوددی وجه څخه دی ښځی ته دشیدو ورکولو په ورځو کی حیض نه راځی بلکی دوه کاله وروسته چی بچی دشیدو څخه پریکوی په دی وخت کی یی حیض راځی، په دی وخت کي نه ښځه حامله ده نه آیسه ده ، نو په دی صورت کی عده ددی ښځی به بالحیض وی اوکه نه بالاشهر اونکاح به یی کله صحیح وی؟

جواب: قال فی الدرالمختار وهی فی حق حرة تحیض الخ ثلثة حیض کوامل الخ (۳)، نو معلومه سوه چی په دی صورت کی عده دذکر سوی مسماة دری حیضه دی ترڅو پوری چی یی دری حیض نه وی تیر کړی نو نکاح یی صحیح نه ده.

دچا عده چي په وضع دحمل سره دي نوکه چیري په دوا سره حمل وغورځوی نو عده به یی پوره سی اوکه نه؟ **سوال**: (۱۱۱۲) هغه مطلقه ښځه چی دهغې عده وضع دحمل ده نوکه دغه دخپلی مودی دحمل دپوره کولو څخه مخکی حمل خپل په دوا یاپه بله یوه ذریعه سره ساقط کړی نو ددی عده به پوره سی اوکه نه؟

جواب: که چیري حامله مطلقه په یو تدبیر اوچل سره خپل حمل ساقط کړی نوکه چیري ددی حمل بعض اعضاء ښکاره سوی وه لکه لاس، پښه وغیره نو بیا عده ددی پوره کیږی (۴). وسقط ظهر بعض خلقه کید او رجل الخ ولد الخ وتنقضی به العدة الخ (۵). در مختار. فقط

---

(۱) الدر المختار علی هامش الطحطاوي فصل في الحداد ج۲ ص۲۳۰. ظفیر

(۲) واصطلاحا تربص یلزم المراة (ایضا ج۲ ص۲۱۴ باب العدة). ظفیر

(۳) الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب العدة ج۲ ص ۸۲۵. ط. س. ج۳ ص ۵۰۴. ظفیر

(۴) واذا اسقطت سقطا ان استبان بعض خلقه انقضت به العدة لانه ولد والا فلا (ردالمحتار باب العدة ج۲ ص =

دطلاقو په عده کی چی حامله سی نو ددی عده وضع دحمل ده: **سوال**: (۱۱۱۳) چی کمه ښځه دطلاقو په عده کی حامله سی په زنا سره نو ددی عده به څه وی، او دزانی سره چی نکاح مخکی دوضع دحمل څخه وسوه نوهغه صحیح ده اوکه نه؟

جواب: کمه ښځه چی په عده کی په زنا سره حامله سی نو ددی عده به په وضع دحمل سره پوره کیږی، فی ردالمحتار عن الحاوی الزاهدی اذا حبلت المعتدة وولدت تنقضی به العدة سواء کان من المطلق اومن زنا الخ (۱)، دی زانیی چی کمه نکاح وکړه مخکی دوضع دحمل څخه نوهغه بالکل ناجائز سوه ځکه چی هغه نکاح په عده کی وسوه اوپه عده کی نکاح کول باطل دی.

دخاوند په عیسایی کیدلو سره ښځه دنکاح څخه ووتله لیکن پر دی ښځی عده تیرول لازم دي: **سوال**: (۱۱۱۴) زید عیسایی مذهب ته واوښتی نواوس ددی نکاح دهندی مسلمانی سره باقی پاته سوه اوکه نه؟ اوهنده دوهمه نکاح کولی سی اوکه نه؟ اوپر هندی باندی عده سته اوکه نه؟ نوکه چیري وي نو دکله څخه به عده شماریږی آیا دوخت دارتداد دزید څخه اوکه نه دوخت دفسخ دنکاح څخه؟

جواب: فی الدرالمختار وارتداد احدهما فسخ عاجل الخ وفیه وعلیه نفقة العدة الخ وفیه ایضا وهی في حق حرة ولو کتابیة تحت مسلم تحیض لطلاق الخ ولو رجعیا او فسخ بجمیع اسبابه الخ ثلث حیض کوامل الخ قوله: بجمیع اسباب مثل الانفساخ بخیار البلوغ والعتق وعدم الکفاءة وملك احد الزوجین الأخر والردة في بعض الصور الخ شامی جلد ثانی (۲) نومعلومه سوه چی په صورت مسئوله کی هنده دزید دنکاح څخه ووتله اوعده پر هنده باندی لازمه ده، وروسته دعدی څخه دوهمه نکاح کولی سی، او زمانه دعدی به دوخت دارتداد دخاوند څخه شمارل کیږی.

پرمرتدی عده لازمه ده: **سوال**: (۱۱۱۵) که چیري په صورت دپریښوولو داسلام کي دده منکوحه پرده حرامه ده اونکاح دده فسخ وی نو دداسی ښځی دپاره عده ضروری ده شرعًا اوکه نه؟

جواب: عده واجب ده (۳).

= ۸۳۱. ط. س. ج۳ ص ۵۱۲). ظفیر

(۵) الدرالمختار علی هامش ردالمحتار . ط. س. ج۳ ص ۵۱۲. ظفیر

(۱) ردالمحتار باب العدة ج۲ ص ۸۳۱. ط. س. ج۳ ص ۵۱۱. ظفیر

(۲) وګوری ردالمحتار باب العده ج۲ ص ۸۲۵. ط. س. ج۳ ص ۵۰۴. ظفیر

(۳) وارتداد احدهما فسخ عاجل فللموطوءة کل مهرها ولغیرها نصفه لو ارتد وعلیه نفقة العدة (درمختار) =

دعدې والا ښځې نکاح باطله ده: سوال: (۱۱۱۲) دیوسړی انتقال وسو دده دښځې سره په عده کی دده خسر دوهمه نکاح وکړه، نکاح ویونکی ته معلومه نه وه چی عده پوره سوه اوکه نه؟ بل داچی په دی مجمع کی ټول اکابر موجود وه، اوبعضي خبر هم وه چی ددی عده پوره سوی نه ده، هغوی په دی وخت څه تذکره ونه کړه، راتلونکي ورځ یی وویل چی په عده کی یی نکاح وتړله ، اوس ددی نکاح وسوه اوکه نه؟ اومجلس والا ګنهګار سوه اوکه نه؟ اوهمدارنګه دمجلس والاوو نکاح باقی پاته سوه اوکه نه ؟

جواب: کله چی واقعی عده ددی پوره سوی نه وه نوهغه نکاح باطله اوناجائزه ده (۱)، اومجلس والا په عقد کی چی هغوی ته علم وو چی عده پوره سوی نه ده اوبیایی څه ونه ویل نو ګنهګار اوفاسق دی نو توبه دی وکاږی اوچاته چی علم نه وو، نو هغه ګنهګار نه سو اوپه دوی کی نکاح دهیچا ماته نه سوه ځکه چی نکاح په کافر اودمرتد کیدو سره ماتیږی اودا فعل ګناه ده کفر او ارتداد نه دی.

دمجذوم ښځه چی دڅو کالو څخه جلاوه نو دطلاقو څخه وروسته پردی باندی هم عده لازمه ده: سوال: (۱۱۱۷) یوسړی مجذوم خپلی ښځې ته په طلاق ورکولو باندی راضی دی او دغه سړی دپنځلس شپاړلسو کالو څخه په جذام کی اخته دی اوصاحب دفراش دی نو په داسی حالت کي هم ددی سړی ښځې ته دعدی ضرورت په وی؟

جواب: کله چی هغه ښځه مدخوله ده یا ددی سره خلوت سویدی یعنی که چیري یو وخت هم خلوت یاصحبت سوی وی نو بیا عده وروسته دطلاقو څخه پر دی لازمه ده اوعده دمطلقی که چیري حیض یی راځی نو دری حیضه دی نو دعدی تیریدلو څخه په مخکی دوهه نکاح نه وی صحیح (۲).

وفات کیدونکی خاوند که وطی نه وی کړی نو هم عده وفات یی پرښځې ضروری ده: سوال: (۱۱۱۸) یوسړی وفات سو اودده ښځه په عمر دشلو کالو ده، ددی مور اوپلار په ۳۵ ورځو کی ددی نکاح دیوبل سړی سره وکړله لیکن دښځې نکاح ثانی په جبر سره کیدل او دمخکی خاوند سره وطی کیدل نه بیانوی یعنی چی وطی یی نه دی کړی او مړ سو،

= قوله وعلیه نفقة العدة ای لو مدخولا بها اذا غیرها لاعدة علیها وافاد وجوب العدة سواء ارتد او ارتدت بالحیض او بالاشهر لوصغیرة او آیسة اوبوضع الحمل کمافی البحر (ردالمحتار باب نکاح الکافر ج۲ ص ۵۳۹. ط. س. ج۳ ص ۱۹۳). ظفیر

(۱) اما نکاح منکوحة الغیر ومعتدته (الی قوله) لم یقل احد بجوازه فلم ینعقد اصلا (ردالمحتار باب العدة ج۲ص ۸۳۵. ط. س. ج۳ ص ۵۱۶). ظفیر

(۲) وتجب العدت فی الکل ای کل انواع الخلوة احتیاط (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب المهر ج۲ ص ۴۷۳. ط. س. ج۳ ص ۱۲۲). ظفیر

نو دانکاح ثاني جائز سوه که نه؟ که چيري دبالغی ښځې خاوند بغير دوطی څخه مړسی نو هم عده وفات ضروری ده او که نه؟

جواب: دکمی ښځې خاوند چي مړسی که څه هم هغه وطی نه وی کړی نو بيا هم عده پر دی ښځې څلور مياشتی اولس ورځې واجب دی لکه څه رکم چي الله ﷻ فرمايلی دی، والذين يتوفون منكم ويذرون ازواجًا يتربصن بانفسهن اربعة اشهر وعشرا، الاٰية (۱)، نو داٰيتِ کريمه اطلاق مذکوره موده دعدی پر متوفی عنها زوجها واجبوی که هغه ښځه موطوءة وی او که نه. هكذا فی كتب الفقه (۲)، نو هغه نکاح ددی ښځې چي مخکی دپوره کيدو دعدي څخه سوی ده باطله اوحرامه او ناجائز ده.

که بيره وی نو عده دخاوند دکور پرځای دمور او پلار سره تيرول درست دي: **سوال**: (۱۱۱۹) يوه انجلي په (۲۰) دجنوری سنه ۱۹۲۰م کی کونډه سويده چي دخپل خاوند په مکان کی دسکونت کولو له امله ورته بيره دخطری ده، نوکونډی مذکوره ته دخوراك او دڅښاك ډير سخت تکليف دی، اوددی خسرګنی پردی باندی رنګا رنګ سختی او تکليف اوتشدد کوی وجه داده چي هغه خلګ داغواړی چي وروسته دعدی څخه فوراً دخپلی مرضی موافق دکونډی عقد ثانی وکړی، اوکونډه داغواړی چي دمور اوپلار په رضا سره عقد ثانی وکړی، نو په حالت مذکوره کی که چيری په ورځو دعده کی مذکوره کونډه دمور اوپلار کورته راسی اوعده پوره کړی نو کولی سی او که نه؟ ځکه چي هلته علاوه دمعاملاتو مذکوره وو څخه داخطره ده چي که چيري کونډی ددوی درضا موافق دعقد څخه انکار وکړی نو هغوی به يی ضرور وهی اوتکوی به يی چي ددغه سره دځان خطره هم ده اويا داچي کونډه خود کشی ته تياره سی.

جواب: دداسی خطره اودبيری په حالت کی هغه کونډه دخپل مور اودپلار کور ته راتلی اوعده پوره کولی سی (۳).

کافره ښځه مسلمانه سوه او ددی خاوند مسلمان نه سو نو پردی عده لازمه ده او که نه؟ سوال: (۱۱۲۰) يوه کافره ښځه په اسلام کی داخله سوه اوددی خاوند چي کافردی مسلمان نه سو، نو په دوی دواړو کی شرعًا تفريق کيږی؟ اوپه ښځې باندی عده واجبيږی او که نه؟

---

(۱) سورة البقرة ع ۳۰. ظفير

(۲) والعدة للموت اربعة اشهر وعشر من الايام بشرط بقاء النكاح صحيحا الى الموت مطلقا وطئت اولا ولو صغيرة الخ (الدرالمختار على هامش ردالمحتار باب العدة ج۲ ص ۸۳۰. ط. س. ج۳ ص ۵۱۰). ظفير

(۳) وتعتد ان اى معتدة طلاق وموت فى بيت وجبت فيه الخ الا ان تخرج اويتهدم المنزل اوتخاف الخ ونحو ذالك من الضرورات فتخرج لاقرب موضع اليه (الدرالمختار على هامش ردالمحتار باب العدة ج۲ ص ۸۵۴. ط. س. ج۳ ص ۵۳۲). ظفير

اوكه چيري دا ښځه دمسلمانيدو څخه وروسته فوراً ديو مسلمان سره نكاح وكړي نو دا نكاح به صحيح وي اوكه نه؟

جواب: په درمختار كې دي چې: لواسلم احدهما ثمه اى دار الحرب ويلحق بها الخ لم تبن حتى تحيض ثلثًا اوتمضى ثلثة اشهر قبل اسلام الاخر اقامة لشرط الفرقة مقام السبب الخ (۱)، ددې عبارت څخه واضحه سوه چې په دې ملك كې كه چيري خاوند والا ښځه اسلام قبول كړي اوخاوند اسلام قبول نه كړي نو دري مياشتې وروسته به هغه دخپل خاوند څخه بائنه اومطلقه سي، اومخكې يې داويلي دي چې وليست بعدة الخ (۲)، يعنى دادري حيض دعدې نه دي بلكې داموده قائم مقام دانكار دخاوند ده، اوپه اسلام راوړلو سره بيا په دې كې اختلاف سويدې چې علاوه ددې درو حيضو څخه نوره عده به پردې ښځه لازمه وي اوكه نه؟ دامام صاحب دقاعدې موافق پردې باندې عده نه لازميږي او دمذكوره درې حيضه تيريدلو څخه وروسته نكاح ثانى دې ته حلاله ده اومخكې ددې مودې څخه به نكاح صحيح نه وي. فقط

مسلمانه ښځه چې مرتده سي اوبيا اسلام قبول كړي نو پردې عده سته اوكه نه؟ سوال:

(۱۱۲۱) دزيد ښځه هنده مرتده سوه نو پردې باندې عده سته اوكه نه؟ اونكاح په دې فسخ ده اوكه نه؟ اودوهم سړي ددې سره نكاح كولى سي اوكه نه؟

جواب: په درمختار كې دي، وارتداد احدهما فسخ عاجل الخ (۳)، وفى ردالمحتار وافاد وجوب العدة سواء ارتد او ارتدت الخ (۴)، او بيايې په درمختار كې ليكلي دي چې، وتجبر على الاسلام وعلى تجديد النكاح زجرا لها بمهر يسير كدينار وعليه الفتوٰى ولوالجيه وافتى مشائخ بلخ بعدم الفرقة بردتها زجراً وتيسيراً الخ (۵)، نو ددې عباراتو څخه دامطلبونه واضح سوه، اول داچې په مرتد كيدو سره داحد الزوجين نكاح فسخ كيږي اوعده پر ښځې باندې لازميږي، اوددرمختار ددوهم روايت څخه دامعلومه سوه چې ښځه كه چيري مرتده سى والعياذ بالله نودابه مجبوريږي پراسلام راوړلو باندې او داولنى خاوند سره به په لږ څه مهر باندې په تجديد دنكاح مجبوريږي، اودبلخ دمشائخو

---

(۱) ايضا باب نكاح الكافر ج۲ ص ۵۳۲ وج۲ ص ۵۳۷. ط. س. ج۳ ص ۱۹۳. ظفير

(۲) ايضا وهل تجب العدة بعد مضى هذه المدة فان كانت المراة حربية فلا لانه لاعدة على الحربية (ردالمحتار باب نكاح الكافر ج۲ ص ۵۳۷. ط. س. ج۳ ص ۱۹۴). ظفير

(۳) الدرالمختار على هامش ردالمحتار باب نكاح الكافر ج۲ ص ۵۳۹. ط. س. ج۳ ص ۱۹۳. ظفير

(۴) ردالمحتار باب ايضا ج۲ ص ۵۳۹. ط. س. ج۳ ص ۱۹۳ – ۱۹۴. ظفير

(۵) الدرالمختار على هامش ردالمحتار باب نكاح الكافر ج۲ ص ۵۴۰. ط. س. ج۳ ص ۱۹۴. ظفير

دفتوٰی څخه معلومه سوه چې دښځې په مرتد کیدلو سره به دنکاح دفسخ حکم نه سی کیدی، زجراً.

دکونډې عده څلور میاشتې اولس ورځې دي: **سوال**: (۱۱۲۲) یوه ښځه په پنځلسم تاریخ باندې کونډه سوه، نو دې دپنځلسم تاریخ په حساب سره څلور میاشتې اولس ورځې پوره کړې اوخپله نکاح ثاني يې وکړه، بیا دوو څلورو سړیانو په عده کې دوې یا څلور ورځې کمې راوستلې نو داصحیح دی اوکه نه؟

جواب: بې شکه په موجب دروایت دامام اعظم رحمه الله په دې صورت کې په عده کې څه کمې پاته کیږي ځکه چې دامام صاحب په نزد باندې په داسې صورت کې چې په وسط دمیاشتې کې کونډه وي نو دورځو دشمیر اعتبار دی، یعنې دهرې میاشتې څخه به دیرش دیرش ورځې اخیستل کیږي اولس ورځې اوڅلور میاشتې به یوسل اودیرش ورځې ([1]) وي، نوکه چیري دیوسل او دیرش ورځو څخه په کم کې دی کونډې خپله نکاح وکړه نو هغه نکاح صحیح نه سوه اوبیا دې نکاح وکړي.

دحاملې عده وضع دحمل ده: **سوال**: (۱۱۲۳) یوه ښځه کونډه ده چې ددوو کالو څخه زیاته موده تیره سوه چې دی ته حمل بالیقین دی، جنین وچ سویدی چې کله تازه کیږي او کله بیا وچ سي نو ددې ښځې عده به څه وي؟

جواب: ددې ښځې عده وضع دحمل ده ([2]).

دممتدة الطهر والا ښځې عده: **سوال**: (۱۱۲۴) دیوې ښځې عمر تقریباً (۲۵) کاله دی لیکن دبلوغ اثار لا تراوسه پوري پیدانه سوه نه يې حیض راغی اونه يې دسینې لوړوالی وسو ددې خاوند وایي چې دا دسړي قابله نسی کیدی، نو اوس په یوه طریقې سره ددې ښځې مذکوره دوهمه خور ددې دخاوند په نکاح کې راتللی سی اوکه نه؟ اوکه چیري دیته طلاق ورکول سی نو ددې عده به دري میاشتې وي اوکه نه؟

جواب: دې ښځې ته دې طلاق ورکړي اودعدې دتیریدلو څخه وروسته ددې دخور سره نکاح کولی سي اوددې عده چې ترڅو پوري سن ایاس ته نه وي رسیدلې نو دري حیضه

([1]) والعدة للموت اربعة اشهر بالاهلة لو بالغرة كمامر وعشر من الايام (الدرالمختار على هامش ردالمحتار باب العدة ج۲ ص ۸۳۰. ط. س. ج۳ ص۵۱۰) وقبيله بالاهلة لو في الغرة والا فبالايام بحر وغيره (درمختار) في المحيط إذا اتفق عدة الطلاق والموت في غرة الشهر اعتبرت الشهور بالأهلية وإن نقصت عن العدد وإن اتفق في وسط الشهر فعند الإمام يعتبر بالأيام فتعتد في الطلاق بتسعين يوما وفي الوفاة بمائة وثلاثين وعندهما يكمل الأول من الأخير وما بينهما بالأهلة الخ (ردالمحتار باب العدة ج۲ ص۸۲۹، ط.س. ج۳ ص۵۱۰). ظفير

([2]) وفي حق الحامل الخ وضع جميع حملها (الدرالمختار على هامش ردالمحتار باب العدت ج۲ ص ۸۳۱. ط. س. ج۳ ص ۵۱۱). ظفير

دی اوبعضو فقهآؤ دامام مالك په مذهب په وخت دضرورت کی فتوٰی ورکړیده، چی ددوی په نزد عده دممتدة الطهر والا ښځی په نه میاشتو کی پوره کیږی اوپه شامی کی دبحر وغیره څخه نقل دی چی په پوره یوکال کی عده ختمیږی، په درمختار کی دی چی، والعدة فی حق من لم تحض لصغر اوکبر اوبلغت بالسن الخ ولم تحض الخ الشابة الممتدة بالطهر بان حاضت ثم امتد طهرها فتعتد بالحیض الی ان تبلغ سن الایاس ([1])، وفی الشامی قال الزاهدی وقد کان بعض اصحابنا یفتون بقول مالك فی هذه المسئلة للضرورة الخ ([2]). فقط

نوی مسلمانه سوی ښځه چی دهغې کافر خاوند مړ سویدی نو پر دی باندی عده نسته: **سوال**: (۱۱۲۵) یوه ښځه مسلمانه سوه ددی بیان دی چی زما خاوند مړسویدی چی کافروو، داچی مسلمانه سوه نوهفته وسوه، نو آیا ددی نکاح فی الحال دیو مسلمان سره کیدی سی اوکه نه دری حیضه انتظار به کوی؟

جواب: ددی نوی مسلمانی ښځی نکاح وروسته داسلام څخه فوراً دیو مسلمان سره صحیح ده.

بی پردی ښځی ته هم په عده کی پرده کول په کاردي: **سوال**: (۱۱۲۶) کونډه ښځه چی دخپل خاوند په وخت کی بی پردی اوسیده، نو په عده کی پردی پرده واجب ده اوکه نه؟

جواب: دی ته پرده کول په کاردی اوپه پرده کی اوسیدل په کاردی اوکونډه ښځه دڅه ضروری کار په وجه سره بل کلی ته یابلی محلی ته که چیري ولاړه سی نو صحیح ده او دشپی به بیرته خپل کورته راځی ([3]).

دطلاقو دانکار کولو څخه وروسته اقرار وکړی نو ددی عده به دکله څخه وی؟ سوال: (۱۱۲۷) دزید ښځه وایي چی ماته زید زبانی طلاق راکړیدی، مگر هغه اقرار نه کوی، خو چی کله ده ته درقم (روپو) طمع ورکول سوه نوهغه په تحریری طلاقو کی لیکل کوی چی ما خو دیته شپږ میاشتی مخکی طلاق ورکړیدی نوددی دعدی تاریخ به دتحریر څخه شروع وی اوکه نه دشپږ میاشتی مخکی څخه ؟

جواب: په درمختارکی دی چی: بخلاف ما لو اقر بطلاقها منذ زمان ماض ([4]) فان الفتوٰی

([1]) ایضا ج۲ ص ۸۲۷ وج۲ ص ۸۲۸. ط. س. ج۳ ص ۵۰۷. ظفیر

([2]) ردالمحتار للشامی باب العدة ج ص ۸۲۹. ط. س. ج۳ ص ۵۰۸. ظفیر

([3]) لا تخرج معتدة وبائن بای فرقة کانت الخ لوحرة من بیتها الخ وتبیت اکثر اللیل فی منزلها الخ (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب العدة ج۲ ص ۸۵۳. ط. س. ج۳ ص ۵۱۸). ظفیر

([4]) ایضا ج۲ ص ۸۳۹. ط. س. ج۳ ص ۵۲۰. ظفیر

علی انها من وقت الاقرار الخ نومعلومه سوه چی مفتٰی به قول په دې صورت کی دادی چی دوقت داقرار اودتحرير څخه به عده شماريږی احتياطًا.

په عده دوفات کی یی نکاح کړی وه خو شپږ میاشتی وروسته یی جداوالی اختیارکی اوبیایی ددی سره نکاح وکړه نواوس به عده څه وی؟ سوال: (۱۱۲۸) دیوی ښځی په عده دوفات کی صرف یوه میاشت تیره سوی وه چی یوسړی ددی سره نکاح وکړه په وجهی دبی علمی اودجهالت دښځی اودسړی ترشپږو میاشتو پوری ددی سره تعلق وو، بیاخو کسان باندی خبر سوه نو هغوی دوی جلا کړه اوسړی یی دښځی دځای څخه وایستی، بیادری ورځی وروسته سړی یومولوی صاحب راوستی اوښځه راضی سوه او مولوی صاحب ددوی نکاح وویله، اوس دلته دعلماؤ دوی ډلی دی یوه ډله وایي چی عده وفات تیره سوه اواوس ددی نکاح صحیح سوه، اودوهمه ډله وایي چی دتفریق څخه وروسته چی ترکمه پوری مابقی عده تیره سوی نه وی نو نکاح صحیح نه ده که چیري په عده کی یی نکاح وسوه اوتریوې اوږدی مودی پوری ښځه اوخاوند هم بستر وه، برابره خبره ده که هغه عده په میاشتو سره وی اوکه په حیض سره وی نوپه دی موده کی مخکی عده تمامه کیدی سی اوکه نه؟

جواب: په درمختار کی دی چی، واذا وطئت المعتدة بشبهة ولومن المطلق وجبت عدة اخرٰی لتجدد السبب وتداخلتا والمرئی من الحیض وعلیها ان تتم العدة الثانیة ان تمت الاولٰی الخ وفی الشامی: اعلم أن المرأة إذا وجب علیها عدتان ، فإما أن یکونا من رجلین أو من واحد ففي الثاني لا شك أن العدتین تداخلتا وفي الأول إن کانتا من جنسین کالمتوفی عنها زوجها إذا وطئت بشبهة أو من جنس واحد کالمطلقة إذا تزوجت في عدتها فوطئها الثاني وفرق بینهما تداخلتا عندنا ویکون ما تراه من الحیض محتسبا منهما جمیعا وإذا انقضت العدة الأولی ولم تکمل الثانیة فعلیها إتمام الثانیة شامی [1] ج۲ ص ۲۰۹، ددی عبارت څخه واضح سوه چی په صورت مسئوله کی به دواړه عدې متداخلي وی اوعده دوفات به پوره کړی، که چیري عده ثانیه پوره سوی نه وی نو دا پوره کول په کاردی.

په لاندینی صورت کی به عده دکله څخه وی: سوال: (۱۱۲۹) عبد الرحیم هجرت وکی اوکابل ته ولاړی اویو تحریر یی په تاریخ د۱۲ جولائی سنه ۱۹۲۰م باندی موږ ته راکول سو چی دهغه خلاصه داده چی که چیري دنن تاریخ څخه تردرو میاشتو پوری زما دطرف

---

[1] وګوری ردالمحتار باب العدة ج۲ ص۸۳۷ – ۸۳۸. ط. س. ج۳ ص ۵۱۸ مطلب فی وطی المعتدة بشبهة. ظ

ځخه څه خط رانغی نوزما ښځه مطلقه ده اودیته ددوهمی نکاح اختیار دی، په دی صورت کی که چیري دعبدالرحیم پرښځه باندی طلاق عائد سی نو ددی عده به دکله ځخه شمارل کیږی؟

جواب: په دی صورت کی ددریم جولائی یعنی دورځي دتحریر خط ځخه کم وخت چی دری میاشتی پوره سی یعنی دریم اکتوبر سنه ۱۹۲۰م ته به په شرط ددی چی تر دی وخته پوری بل تحریر دعبدالرحیم ځخه رانسی نو موافق دشرط په ۱۳\ داکتوبر دده ښځه به مطلقه سی اوددی وخت ځخه به عده دطلاق دری حیضه دی ته پوره کول پکار وي که چیري دی ته حیض راځی.

<u>زانیه دزانی سره فوراً نکاح کولی سی اوعده باندی نسته</u>: **سوال**: (۱۱۳۰) زید دهندی سره نکاح وکړه، بیاځه موده وروسته دهندی خور یی هم په خپل تعلق کی وساتله بیا دهندی خورته زید طلاق ورکی اوازاده یی کړه، نو اوس دهندی خور به دوهمه نکاح وروسته دعدی ځخه کوی اوکه نه پر دی عده لازمه نه ده؟

جواب: دخور دهندی سره چی کله زید نکاح نه وه کړی اوبلا نکاح یی ددی سره تعلق ناجائز وساتی اوزنا یی وکړه نو دزید دکور ځخه په جداوالی باندی هغه فوراً خپله نکاح کولی سی، اوعده پر دی باندی هیڅ نسته (۱).

<u>دمعتدی سره په زناکولو سره پر دی باندی نوی عده نه راځي</u>: **سوال**: (۱۱۳۱) یوسړی دبی علمی په وجه سره دیوی ښځی سره ددی دخاوند دمرګ ځخه یوه میاشت وروسته نکاح وکړه ترشپږو میاشتو پوری هم بستر وه، بیا خلګو دښځی اودخاوند په مینځ کی جداوالی وکی اوسړی یی دښځی دځای ځخه وایستی بیا یومولوی دری ځلور ورځی وروسته نکاح ددواړو وویله نو آیا دانکاح جائز اونافذ سوه اوکه نه؟ نوکه چیري داوړدی مودی ځخه وروسته جداوالی واقع سو نوپه نکاح فاسد وغیره کی اوله باقی عده دزوجینو په خپل مینځ کی دمشغولتیا په زمانه کی تمامیدی سی اوکه تر تفریق وروسته په متداخل کیدو سره تمامیدی سی؟

جواب: شامی ج۲ ص **۳۵**، باب المهر وذکر فی البحر هناك عن المجتبی أن کل نکاح اختلف العلماء في جوازه کالنکاح بلا شهود فالدخول فیه موجب للعدة أما نکاح منکوحة الغیر ومعتدته فالدخول فیه لایوجب العدة إن علم أنها للغیر (۲) لأنه لم یقل أحد

---

(۱) لونکحها الزانی حل له وطوها اتفاقا والولد له ولزمه النفقة (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار فصل فی المحرمات ج۲ ص ۴۰۱. ط. س. ج۳ ص ۹۴). ظفیر

(۲) ردالمحتار باب المهر ج۲ ص ۴۸۲. ط. س. ج۳ ص ۱۳۲ مطلب فی النکاح الفاسد. ظفیر

بجوازه فلم ینعقد أصلا الخ ، ددی څخه معلومه سوه چی دمعتدی دغیر سره باوجود دعلم ددی امر څخه چی دامعتده ده نکاح کول اوپه دخول کولو سره عده نه لازمیږی اوښکاره داده چی ددی عده به دزنا په زمانه کی پوره کیږی مثلا که چیري څوك دکونډه معتده په عده کی زنا وکړی نو ښکاره ده چی دغه موده به په زمانه دعدی کی شماریږی.

پرمطلقه عده ضروري ده: **سوال**: (۱۱۳۲) په اول کی دزید نکاح دهندی سره وسوه څه موده وروسته زید په زمانه دحیات دهنده کی ددی دحقیقی خور سره نکاح وکړه، بیا زید هندی ته طلاق ورکی، اوس هنده دبل سړی سره دنکاح کولو دپاره ورځی عده به پوره کوی اوکه نه؟

جواب: عده به لازمیږی. فقط

خاوند والا چی په زنا سره حامله سویده نوپه دی باندی عده لازمه ده: **سوال**: (۱۱۳۳) دزید دمنکوحی زبیده سره عمر زنا وکړه اوزبیده حامله سوه، په حالت دحمل زید دی ته طلاق ورکی جدایی کړه، آیا زبیدی ته دعمر سره دنکاح کولو دپاره دعدی پوره کول شرط دی اوکه نه؟

جواب: چونکی په حکم د، الولد للفراش وللعاهر الحجر ([1])، سره هغه حمل دزنا څخه کیدل شرعًا مسلم نه دی، ددی وجه څخه عمر ته به ددی مطلقه حامله څخه بغیر دوضع دحمل څخه نکاح جائز نه وی ځکه چی دحاملی عده وضع دحمل ده، کما قال الله تعالٰی واولات الاحمال اجلهن ان یضعن حملهن الآیة ([2]).

دعدی متعلق څو سوالونه: **سوال**: (۱۱۳۴) که چیري طالق اومطلقه دواړه ووایي چی نه یوځای موږ یوازي ناست یو اونه وطی سته، نو اوس به ددوی په قول او په قسم سره اعتبار کیږی اوکه نه بغیر دقسم څخه اعتبار وکړی او بغیر دعدی څخه نکاح وسی؟

(۲) که چیري وروسته ددی نکاح څخه په یوه میاشت کی هغه ښځه دبل سړی سره ولاړه سی او دخپل مذکوره پورته قول څخه منکر سی نو په قول به یې اعتبار وسی اوکه نه؟

(۳) که چیري دطلاقو څخه وروسته ښځه ووایي چی زه غیر مدخوله یم نو بغیر دعدی څخه ددوهم سړی سره نکاح ددی جائزده اوکه نه؟

(۴) خلوت صحیحه په ګواهانو سره ثابتیږی اوکه نه دطالق اودمطلقی په قول سره؟

جواب: ۱. کله چی دواړه متفق دی پرعدم خلوت اوصحبت باندی نو دقسم ضرورت نسته.

([1]) ترمذی باب ما جاء ان الولد للفراش ج۱ ص ۱۸۲. ظفیر

([2]) سورة الطلاق، وفی حق الحامل مطلقا وضع جمیع الحامل حملها (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب العدة ج۲ ص۸۳۱. ط. س. ج۳ ص ۵۱۱). ظفیر

۲\. دمابعد انکار اعتبار نسته.
۳\. که چیري ګمان ددی دقول ربښتیا وو نو پر دی به اعتماد وکړی، اونکاح ددی سره بغیر دعدی څخه جائز ده.
۴\. که چیري دواړه متفق وی په څه کار باندی نو ضرورت دشاهدانو نسته اوکه چیري په خپل مینځ کی یی اختلاف وی نو پهمدعی باندی بینه دی اوپر منکر باندی قسم دی.

دحاملی ښځی عده وضع دحمل ده اوکه چیری هغه وچ سوی وی نو ددی په دوا وغیره سره غورځول ورته جائز دی: **سوال**: (۱۱۳۵) دچاپه خیټه کی چی حمل وی اوخاوند مړسوی وی اوبچی په خیټه کی وچ سوی وی، ددی ښځی نکاح کول مخکی داسقاط دحمل څخه جائز ده اوکه نه؟ اودا حمل په څنګه طریقی سره غورځول جائز دی؟

جواب: دحاملی متوفی عنها زوجها عده په وضع دحمل سره ده، کماقال الله تعالیٰ واولات الاحمال اجلهن ان یضعن حملهن (الآیة) نوچی ترڅو پوری وضع دحمل نه وی سوی چی په هره طریقه سره وی ترهغه وخته پوری هغه ښځه په بل ځای کی نکاح نه سی کولی، اوچی کله په وجه دوچیدلو دحمل دولادت څه صورت ونه سو نو اسقاط دحمل په دوا وغیره سره درست دی.

دطلاقو ثلثه وو څخه وروسته که چیری خاوند زنا کوی نو ددی عده به هم دجدایی څخه وروسته شروع کیږی: **سوال**: (۱۱۳٦) یوسړی خپلی ښځی ته په حالت دحصه کی دری طلاقه ورکړل او ددی خبری موده څلور پنځه میاشتی تیری سوی دی سړی اوښځه صحبت هم کوی، نودا ښځه ددی خاوند په کورکی اوسیدلی سی اوکه نه؟ اوکه چیري ښځه دبل سړی سره نکاح کول غواړی نو عده به ازسر نو کول پکاروی اوکه نه هغه څلور پنځه میاشتی چي دخاوند په کور کی وه هغه به په عده کی شماریږی اوپه دی سره به عده پوره کیږی؟

جواب: پردی ښځی باندی دری طلاقه واقع سوه، اوبغیر دحلالی څخه داولنی خاوند سره نکاح نه سی کولی اواولنی خاوند ته ددی سره برابر وطی کول حرام اوزنا ده اودوهمه نکاح دیته دبل سړی سره دعدی تیریدلو څخه وروسته کول په کاردی اوعده به یی دهغه وخت څخه شروع سی چی کله دا داولنی خاوند څخه جلاسی اودیته (۱) نه ورځی.

چی دوباره یی راوستله نو په جمـــاع کولو سره به دوهمه عده واجبیږی: **سوال**: (۱۱۳۷) یو

---

(۱) ومبدأها ای العدة فی النکاح الفاسد بعد التفریق من القاضی بینهما ثم لو وطئها حدا والمتارکة ای اظهار العزم من الزوج علی ترك وطئها (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب العدة ج۲ ص ۸۴۱. ط. س. ج۳ ص ۵۲۱). ظفیر

سړی ښځی ته دری طلاقه بائن ورکړل اوجدایی کړله اوبیایی په عده کی خپل کورته راوستله تردی پوری چی عده تیره سوه، یو څو ورځی وسوی، ددی څخه وروسته اهل محله ددوی په مینځ کی جداوالی وکړی اوپه معلومات کولو باندی طالق جواب ورکی چی ماته طلاق یاد نه وو، نو په دوباره راوستلو اوپه جماع کولو سره عده ثانیه واجبیږی اوکه نه؟ او دا وطی بالشبه ده اوکه نه؟

جواب: داوطی بالشبه ده اودوهمه عده واجب ده اوتداخل به په عدتین کی کیږی او بغیر دتیریدلو ددوهمی عدی څخه تحلیل دنکاح درست نه دی، *کذافی الدرالمختار والشامی* (۱).

چی کمه ښځه قابل دمجامعت نه وی نو پر دی هم عده سته: **سوال**: (۱۱۳۸) یوسړی دیوی ښځی سره واده وکی بیا وروسته معلومه سوه چی هغه ښځه قابله دمجامعت نه ده ماسوا دمتیازو دسوری څخه نور څه نسته نو بیایی دیته طلاق ورکی نو پردی باندی عده واجب ده اوکه نه؟ اوپر خاوند باندی نفقه دعده واجب ده اوکه نه؟ اومهر څومره اندازه لازم دی؟

جواب: عده احتیاطا پردی واجب ده (۲) اونفقه دعدی هم لازمه ده ځکه چی نفقه تابع دعدی ده، کذا فی الشامی، او مهر نصف لازم دی دوجه ددخول دنه کیدلو اودخلوت صحیحه دنه کیدلو څخه ، ځکه چی ددی ښځی سره چی کم خلوت وسو نوهغه خلوت صحیحه نه دی کذا فی الدرالمختار (۳) . فقط

دحاملی ښځی عده وضع دحمل ده برابره خبره ده که دخاوند دمرګ څخه نیمه ګهنټه وروسته وضع دحمل سوی وی نو هم: **سوال**: (۱۱۳۹) دحاملی ښځی عده وضع دحمل ده نوکه چیري ددی دخاوند وفات اووضع دحمل په یووخت کی سوی وی نو ددی عده به څنګه وی؟ که چیري وضع دحمل دخاوند دمرګ څخه نیمه ګهنټه مخکی اویا وروسته وی نو څه حکم دی؟

جواب: دحاملی عده مطلقًا په وضع دحمل سره ده،که څه هم دخاوند دمرګ څخه ګهنټه یا نیمه ګهنټه بعد هم وضع دحمل وسی نوعده پوره سوه، اوکه چیري دوفات څخه مخکی

(۱) واذا وطئت المعتدة بشبهة ولو من المطلق وجبت عدة اخری لتجدد السبب وتداخلتا الخ (ایضا ج۲ ص ۸۳۷. ط. س. ج۳ ص ۵۱۸) مطلب وطی المعتدة بشبهة. ظفیر

(۲) ان المذهب وجوب العدة للخلوة صحیحة اوفاسدة (ردالمحتار ج۲ ص ۸۲۵. ط. س. ج۳ ص ۵۰۴) وتجب العدة بخلوة وان کانت فاسدة لان تصریحهم بوجوبها بالخلوة الفاسدة (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب العدة ج۲ ص ۴۲۲. ط. س. ج۳ ص ۵۰۴). ظفیر

(۳) والخلوة بلا مانع حسی وطبعی وشرعی ومن الحسی رتق وقرن وعضل (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب المهر ج۲ ص ۴۲۲. ط. س. ج۳ ص ۱۱۴). ظفیر

وضع دحمل وسی نوبیابه عده څلور میاشتی اولس ورځی وی په شامی کی دی چی، قوله وضع جمیع حملها ای بلا تقدیر بمدة سواء ولدت بعد الطلاق اوالموت بیوم او اقل الخ (۱).

دعدې پر ختمیدو باندې معلومه سوه چې حمل دی نو عده به څومره وي؟ سوال: (۱۱۴۰) یوه ښځه دیوکال مودی څخه په وجه دناخوښی دخپل خاوند څخه جلا اوسیدله، نودیته ددی خاوند په ۱۲۸\ مارچ طلاق ورکی، او۱۲۸\ جون ته یی دری میاشتی عده ختمه سوه، او دا وخت دیته حمل ددوو میاشتو اودلسو ورځو وو، نوددی ښځی نکاح ثانی په حالت دحمل کی ددوهم سړی سره جائزده اوکه نه؟ اودحمل موجوده بچی به دچا څخه متصور وی داول خاوند څخه اوکه نه ددوهم خاوند څخه؟

جواب: دی ښځی ته چونکی په عده کی حمل معلوم سو، نوددی عده به په وضع دحمل سره وی (۲)، یعنی چی کله بچی پیداسی نوهغه وخت به ددی عده پوره سی، اوکه چیري طلاق رجعي یی ورکړی وو، یعنی یو یا دوه طلاق یی په صریح الفاظو سره ورکړی وه نو بیاپه عده کی حامله کیدل ددی رجعت ګڼل کیږی داولنی خاوند څخه اودبچی نسب به داولنی خاوند څخه ثابتیږی، اوددوهم سړی سره به ددی نکاح صحیح نه وی ځکه چی داولنی طلاق سره رجوع وسوه نوهغه ښځه داولنی خاوند زوجه سوه، اوکه چیري طلاق بائن اویا مغلظ وو، اوپه عده کی حمل ښکاره سو نوکه چیري بچی دشپږو میاشتو څخه په زیاته موده کی پیداسو نو نسب به دبچی دخاوند څخه ثابت نه سی، خو چی کله خاوند دعوٰی وکړی چی بچی زمادی اوعده بیاهم په وضع دحمل سره پوره سوه نوپه دی صورت کی وروسته دوضع دحمل څخه ددوهم سړی سره نکاح کول ددی صحیح دی او دبچی نسب به دهیچ چا څخه ثابت نه سی بلکی هغه ولد الزنا دی که چیري خاوند دعوٰی نه وی کړی.

دعدې نفقه پر ذمه دخاوند واجب ده: **سوال**: (۱۱۴۱) زید خپلی ښځی حاملی ته طلاق ورکی اودکور څخه یی وایسته، نومذکوره ښځی ته خرچه دوضع ترحمل پوری اومهر، او دبچی دپالنی دپاره څه ورلره ورکول کیدی سی اوکه نه؟

جواب: په دی صورت کی دښځی او دعدی نفقه پرذمه دخاوند واجب ده اودبچی دپرورش خرچه هم پر ذمه دخاوند ده، کذا فی کتب الفقه (۳).

---

(۱) وګوری ردالمحتار باب العدة ج۲ ص ۸۳۱. ط. س. ج۳ ص ۵۱۱. ظفیر

(۲) اعلم ان المعتدة لوحملت فی عدتها ذکر الکرخی ان عدتها وضع الحمل (ایضا) ط. س. ج۳ ص ۵۱۱. ظفیر

(۳) وتجب لمطلقة الرجعی والبائن والفرقة بلا معصیة کخیار عتق النفقة والسکنی والکسوة ان طالب المدة =

دوفات معتدة ښځه دتعزيت دپاره هيچيري نسی تللی: **سوال**: (۱۱۴۲) دمعتده عن الوفات ښځي تلل دتعزيت دپاره ديو قريب کره څنګه دی؟

جواب: ناجائز دی کما فی الشامی عن الفتح والحاصل ان مدار خروجها بسبب قيام شغل المعيشة فيتقدر بقدره الخ ج۲ ص ۲۷۳. (۱)

ددوو کالو جلا اوسيدلو څخه وروسته هم که خاوند طلاق ورکړي نو هم عده لازميږي: **سوال**: (۱۱۴۳) که چيري واقعی دامعلومه سی چی خاوند دخپلی ښځی څخه ددوو کالو څخه بالکل جلا دی اوپه بل ځای کی اوسيږی نوکه چيري په دی حالت کی ددوو کالو څخه وروسته خاوند خپلی ښځی ته طلاق ورکی نو په دی صورت کی هم پر ښځی عده تيرول لازميږی اوکه نه؟ ځکه چی علت چی کم دی نو هغه استبراء درحم ده اوهغه دمخکی څخه حاصل دی؟

جواب: کله چی ددی ښځی سره دخول اوياخلوت سويدی نوعده پر دی لازمه ده دوجه داطلاق دقول دباری تعالی چی فرمايي: والمطلقات يتربصن بانفسهن (۲) ثلثة قروء ، ځکه چی اصل سبب دعدی دواجبوالی داحکم دباری تعالی دی، اوداعلل چی فقهآء په منصوصاتو کی تحرير فرمايي دا دقبيلی دنکات بعد الوقوع څخه دی پردی باندی مدار دحکم په موجودګی دنص صريح کی نه کيږی.

په عده دوفات کی چی چا واده وکی نو دهغه دعدی بيان: **سوال**: (۱۱۴۴) دزيد متوفی ښځی سره په عده دوفات کی عمر نکاح وکړه وطی يی کولي اودنکاح څخه وروسته په دوی دواړو کی جداوالی ونه سو اونه ددی ښځی مابقی عده پوره سو، شپږ مياشتی وروسته عمر بيا ددی ښځی سره نکاح وکړه، په فتاوٰی عالمګيری باب العدة کی دی چی: ولو تزوجت في عدة الوفاة فدخل بها الثاني ففرق بينهما فعليها بقية عدتها من الأول تمام أربعة أشهر وعشر وعليها ثلاث حيض من الآخر ويحتسب بما حاضت بعد التفريق من عدة الوفاة كذا في معراج الدراية وهكذا في المبسوط، وايضا فيه: المطلقة إذا حاضت حيضة ثم تزوجت بزوج آخر ووطئها الثاني وفرق بينهما وحاضت حيضتين بعد التفريق كان لهذا الزوج الثاني أن يتزوجها لانقضاء عدة الأول، نوپه دی صورت کی دعمر نکاح چی وروسته دشپږو مياشتو څخه دزيد متوفی ښځی سره وسوه نو هغه صحيح ده اوکه نه؟

= (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب النفقة ج۲ ص۹۲۱. ط.س. ج۳ ص۵۲۹ مطلب فی نفقة المطلقة). ظ

(۱) ردالمحتار فصل فی الحداد ج۲ ص ۸۵۴. ط. س. ج۳ ص ۵۳۲. ظفير

(۲) سورة البقره ع ۲۸. ظفير

جواب: پوره والی دعدی اولی وروسته دتفریق یا دمتارکت څخه دزوج ثانی واجب ده، نو چی کله دعمر څخه جداوالی ونه سو نو هغه عده دتماموالی دعدی اولی دپاره کافی نه دی بلکی بعد التفریق یا ترمتارکت دشوهر ثانی اتمام دعدی اولی لازم دی اودوهمه عده بالاقراء یا بالاشهر لازمه ده، لیکن دوهم خاوند یعنی عمر که چیري ددی سره نکاح کول غواړی نو وروسته دتیریدلو دعدی اولی څخه په دوهمه عده کی نکاح کولی سی ځکه چی هغه په دی صورت کی دصاحب دعدی اولی څخه په دوهمه عده کی نکاح کولی سی ځکه چی هغه په دی صورت کی صاحبِ عده ده، کما نقل عن الامام ابی حنیفة انه یدخل علیها للحال لانه صاحب العدة (١). شامی، وهکذا یفهم من العبارة المنقولة فی السوال من العالمگیریه کان لهذا الزوج الثانی ان یتزوجها لانقضاء العدة الاولی ای بلا انتظار انقضاء العدة الثانیة (٢)، نوددی څخه معلومه سوه چی ددوهمي عدې پوره والی ددی سره په نکاح کولو کی ضروری نه دی، خو که چیري دبل سړی سره نکاح کول غواړی نوبیا ددوهمی عدی پوره کول هم لازم دی اوپه دی دواړو عدوکی به تداخل کیږی ، کما فی الشامی فی شرح قوله وجبت عدة اخری الخ وفی الدرالمختار: اعلم ان المرأة إذا وجب علیها عدتان فإما أن یکونا من رجلین أو من واحد ففي الثاني لا شك أن العدتين تداخلتا وفي الأول إن كانتا من جنسين كالمتوفى عنها زوجها إذا وطئت بشبهة أو من جنس واحد كالمطلقة إذا تزوجت في عدتها فوطئها الثاني وفرق بينهما تداخلتا عندنا ويكون ما تراه من الحيض محتسبا منهما جميعا وإذا انقضت العدة الأولى ولم تكمل الثانية فعليها إتمام الثانية الخ (٣).

چی په عده کی دیو حیض څخه وروسته حمل وسو نوعده به څنګه تیره کړی؟ سوال:

(**۱۱۴۵**) یوه ښځه چی مطلقه ده یوحیض ورته راغی بیادی ته دزنا څخه حمل پاته سو، نو اوس دامطلقه ددی زانی سره نکاح کول غواړی نوکله یی وکړی؟

جواب: وروسته دوضع دحمل څخه دی نکاح وکړی، اومخکی دوضع دحمل څخه دی ته نکاح کول جائز نه دی ځکه چی ددی عده تیریدل په وضع دحمل سره دی، کما فی رد المحتار للشامی ومثله ما لوكان الحمل في العدة الخ وفي الحاوي إذا حبلت المعتدة وولدت تنقضي به العدة الخ فالمراد بقوله إذا حبلت المعتدة معتدة الطلاق بقرينة ما بعده الخ واعلم أن المعتدة لوحملت في عدتها ذكر الكرخي أن عدتها وضع الحمل الخ (٤). فقط

---

(١) عالمگیری باب العدة ج۱ ص **۵۳۲** ماجدية. ظفير

(٢) عالمگیری کشوری ج۳ ص **۵۳۲**. ظفير

(٣) ردالمحتار باب العدة ج۲ ص ۸۳۸. ط. س. ج۳ ص **۵۱۹** مطلب فی وطؤ المعتدة بشبهة. ظفير =

دحاملی حمل چی وچ سی نو عده څنګه پوره کړي؟ **سوال**: (۱۱۴۲) دمتوفی عنها زوجها ښځی عده خو وضع دحمل ده نوکه چیري حمل په نس کی وچ سی نو عده به څنګه پوره کوی؟

جواب: کله چی حمل په نس کی وچ سو نو په شریعت کی هغه حامله نه متصور کیږی او ددی عده به لس ورځی اوڅلور میاشتی وی په شان دغیر حاملی، کما قال الله تعالی: والذین یتوفون منکم ویذرون ازواجا یتربصن بانفسهن اربعة اشهر وعشرا، الایه (۱). وفی الدر المختار والعدة للموت اربعة اشهر وعشر مطلقا الخ فلم یخرج عنها الا الحامل، قوله: فإن عدتها للموت وضع الحمل كما في البحر ، وهذا إذا مات عنها وهي حامل أما لو حبلت في العدة بعد موته فلا تتغير في الصحيح كما يأتي قريبا (۲)، نو مراد دحاملی څخه هغه دی چی حمل ددی متحقق وی اوچی کله وچ سو نو حامله کیدل ددی متحقق پاته نه سو.

قد تم الجزء العاشر بتوفیقه تعالی علی ید محمد ظفیر الدین غفرالله ذنوبه، ویلیه الجزء الحادی عشر ان شآء الله تعالی.

قد تم الجزء العاشر من فتاوی دارالعلوم دیوبند

کمپوزنګ

المولوي الحافظ نور احمد النوراني الحقاني

العلم کمپیوټرز ، کوئټه

تاریخ الاختتام

الاحد ، ۲٤ ربیع الثاني ، ۱٤۳۰



(۴) ردالمحتار باب العدة ج۲ ص ۸۳۱. ط. س. ج۳ ص ۵۱۱. ظفیر

(۱) سورة البقرة رکوع ۳۰. ظفیر

(۲) ردالمحتار باب العدة ص ۸۳۰. ظفیر

فتاویٰ

دارالعلوم

مدلل و مکمل

دیوبند



۱۱



دموجوده وخت په دار الافتآء کی دمروجه نسخو مطابق، دنوی تخریج سره اعلیٰ کمپوټری چاپ

فتاویٰ دار العلوم دیوبند

مدلّل و مکمّل

په آسانه او روانه کندهاری پښتو

یوولسم جلد (۱۱)

ثبوت النّسب ، الحضانة ، النفقة

تالیف: مفتی اعظم عارف بالله حضرت مولانا مفتی عزیز الرحمٰن صاحب عثمانی رحمه الله
((ددار العلوم دیوبند اول مفتی))

په لار ښوونه د: حکیم الاسلام حضرت مولانا قاری محمدطیّب صاحب رحمه الله (مهتمم دارالعلوم دیوبند)

مرتب: مولانا محمد ظفیر الدین صاحب، رفیقِ شعبۂ ترتیبِ فتاوٰی دار العلوم دیوبند

اضافه تخریج جدید: مولانا مفتی محمد صالح، رفیقِ دارالافتآء جامعة اسلامیه، بنوری ټاؤن کراچی

ژباړه ، تعلیق او تحقیق: مولانا الحافظ محمّد أحمد الحقاني الأفغاني، فاضلِ حقانیه، پشاور

زیرِ نګرانی: شیخ الحدیث حضرت مولانا الشیخ عبد القادر النهر کاریزي (دامت بر کاتهم العالیة)

مکتبۂ حبیبیه

کاسی روډ، کوئټه ☎ : 0812662448

لومړی چاپ

۱۴۲۹ شعبان \ اګست 2008

Maktabah Habibiyah	مکتبه حبیبیه
Publishing Organization	خپروندویه ټولنه

Arg Bazar, Kandahar, Afghanistan. Mob : 0799447413 : ارګ بازار ، کندهار ، افغانستان ، ګرځنده تلیفون

Kasi Road, Quetta, Pakistan . Phone : 0812662448 : کاسي روډ ، نزد مسجد نور ، کوئټه ، تلیفون شمیره

AL-ILM Computers, Quetta. Mob: 03218016371 :العلم کمپیوټرز، کوئټه پاکستان، ګرځنده تلیفون شمیره

دفتاوٰی دار العلوم دیوبند مدلّل او مکمل (پښتو) دمضامینو فهرست، جلد ⓫

ديوولسمی حصې فهرست ختم سو



بسم اللہ الرحمٰن الرّحیم

الحمد لله رب العلمين والصلوة والسلام على سيد المرسلين وعلى آله وصحبه اجمعين.
دالله تعالى چه پردى هرڅومره قدر شكر اداء كړل سى نوكم دى چه ده په خپل فضل او كرم سره ما غوندى بى قدره انسان دفتاوى دار العلوم ديوبند ترتيب اوتزئين او دتحشيى په خدمت باندى لګولى دى، اوپه دى خدمت كى يې په كاميابۍ سره په هم كنار كولو سره حوصله افزائى يې هم عطا كړه، كنې داهل علم څخه پټه نه ده چه دا كار څومره محنت طلبى، مشكل او سكون او اطمينان غواړى ولى چه دخورو ورو سوو زرګونو مسائلو څخه پركتاب او باب بلكه پرفصل فقهى ترتيب، دهر عربى عبارت حواله په كومو مسئلو كى چى مفتى علام حواله نه ده درج كړى، ددى دپاره دباضابطه حوالجاتو پلټنه او كوشش او پرټولو حواشيو باندى اندراج څه اسان كار نه دى.
حضرت مولانا اكبر ابادى مدظله العالى يو وخت فرمايلي وه چه دلته زموږ په يونيورستى كى ديو چا معمر قديم پخوانى كتاب ځوك ايډټ (Edit) يعنى سمون او تصحيح كوى نو تردرو كالو پورى يونيورستى ګران قدره وظيفه وركوى او بيا ددى په تيارئ او په منظورى باندى دهغه په دوكتراه (پى، ايچ، ډى) ډګرئ سره اكرام كوى، يو استاد مستقل محنت وكړى دده دراهنمايى فريضه هم اداء كوى، او تا دحضرت مفتى صاحب پر (۳۶) شپږ ديرش كاله دور افتاء باندى كافى محنت وكى او ددار العلوم غوندى دمركزى دار الافتاء خواره واره سوى فتاوى دي مرتب كړه، او حاشيه او حواله جات دى درج كړه ددى څو جلده دي شائع كړه مقبول عام سوه، مګر ستاسو دعلماؤ په نظر كى داسى معلوميږى چه ګواكي هيڅ كار نه دى سوى، او ديوې دخير دكلمى دويلو دپاره هم تيار نه دى حالانكه دا لوى عظيم الشان تحقيقى كار سرته رسيږى، په مستقبل كى دا علمى او فقهى ذخيره دامت دپاره به ډيره په كار راتلونكى ثابته سى، خو په دغه وخت كى ما داسي ګڼلي وه چه مولانا زما دحوصله افزائى دپاره دا كلمات فرمائى، مګر اوس كله چه ګورمه چه ددى يو يو جلد څو ځله چاپ كيږى نو داسى اندازه كيږى چه دمولانا صاحب اندازه ډيره صحيح وه انشاء الله څنګه چه مخ ته ځو، دفتاوى دار العلوم ديوبند مدلل او مكمل قدر او قيمت به هم زياتيږى اوپر مخ به ځى، او دمسلمانانو كورونه به انشاء الله ددې څخه خالى نه وى.
څه شك نسته چي دا ټول دفضلِ ربِّىْ څخه وروسته دجامعه اسلاميه دار العلوم ديوبند اوددى داكابرو اوداسلافو دخدمتونو اوداخلاص ميوه ده، او دعارف بالله حضرت مفتى

صاحب قدس سره دروحانياتو داثراتو خوندوره نتيجه ده.

نن كله چه ددي يوولسم جلد مكمل سو، او چاپ كولو ته ځي دفتاوى دمرتب زړه او دده ژبه دحمد اوشكر څخه درب ډكه او تازه ده او دده تندى دمالك حقيقي په وړاندي سجده كونكى دى او دده دهر بُنِ مو څخه آواز راځي.

اله العلمين ﷻ دي ديو بيقدره ظلوم او جهول دى حقير محنت ته په شرف دقبوليت سره اكرام وكړى او ددارينو دنعمتونو څخه دي دمرتب ظاهر او باطن مالا مال كړى او ددى سره دي ددارالعلوم فيض تر قيامته باقي وساتي، ځكه چه كائناتِ انساني ددى څخه مستفيض كيږى اودا ځانگو دعلم او دعمل ددښمنانو، مخالفينو او دبد باطنو دشرونو اود فتنو څخه مامون او محفوظ وفرمايى، رَبَّنَا تَقَبَّلْ مِنَّا اِنَّكَ اَنْتَ السَّمِيْعُ الْعَلِيْمُ.

په دې جلد كي دكتاب الطلاق اخرى دري بابه دى چه په لسم جلد كي دراتللو څخه پاته سوى وه: ١- ثبوت النسب ٢- حضانت ٣- نفقه ، دا جلد پردى دريو بابونو باندي ختمول مناسب معلوم سوه اوس ددى څخه په مخ ته جلدونو كي چه كم مسائل راځى ددى تعداد به نسبتًا ډير كم وى، ددى وجه چه په عام طور باندي دلمونځ، روژه، حج او زكوة څخه وروسته عوامو ته دنكاح او طلاقو سره دمتعلق احكامو او مسائلو سره تعلق راځي، او ددى په اړوند هغوى دمفتيانو حضراتو څخه سوالونه كوى ددې څخه دعلاوه مسائلو صرف دخاص طبقي خلكو ته ضرورت پيښيږى او دوى ددى متعلق كله كله استفسار كوى، ددى وجه ددى مسائلو تعداد كم دى، ان شآء الله په دولسم جلد كي به دكتاب الايمان څخه واخله تركتاب الوقف پوري مسائل راځى چه پرهغه كار شروع سوى دى، اُميد دى چه ددى سلسلې به ډير ژر تكميل وسي، دعاء ده چه الله تعالي ما بقى كار هم په ښايست او ښه ډول سوه پوره كړى.

په اخر كي دسرپرست حكيم الاسلام حضرت مولانا قارى محمد طيب صاحب مدظله، محترم اراكين دشوري زِيْدَ مَجْدُهُمْ او دخپلو استاذانو دامت فيوضاتهم په خدمات عاليه كي هديه دامتنان او تشكر پيش كول خپل فرض گنم چه ددوى دتعليم او تربيت، حوصله افزائيو او ددعاگانو په بركت سره دا خاكسار ددى خدمتِ گرامي لائق سو، رب العالمين دى ددى ټولو بزرگانو سايې دعاطفت تر ډيره پوري زموږ پرسرونو قائمي ولرى، آمين يا رب العالمين.

ددعا غوښتونكى: مُحَمَّد ظَفِيْرُ الدِّيْن غفر له

دفتاوى دار العلوم ديوبند ترتيب كوونكى، ١٢٧ذي القعدة١ كال ١٤٠٠ هـ ق

بسم اللہ الرحمٰن الرحیم

الحمد لله رب العلمين والصلوة والسلام على سيدالمرسلين وعلى آله وصحبه اجمعين.

شپاړسم باب : باب ثبوت النسب

دنسب سره متعلق احکام او مسائل

دمنكوحي غير مطلقي دبل سړي سره نكاح اوددي اولاد: سوال: (۱۱۴۷) يوه ښځه چه دهغي خاوند ژوندى دى، دخپل كور څخه ووتله اوپه بل ځاى كي كښينستله، او اولني خاوند طلاق نه دى وركړى، او هغي دويمه نكاح كړيده نو هغه اولاد چه ددويم خاوند څخه سويدى هغه حلال دى اوكه حرام؟ او ددى اولاد دنورو نسلونو سره رشته جائز ده اوكه ناجائز؟

جواب: ددى غير مطلقي ښځي نكاح ددويم خاوند سره ناجائز او باطله ده او هغه اولاد چه ددويم خاوند څخه دى نو هغه به شرعا اولني خاوند ته منسوب كيږي لقوله ﷺ : الولد للفراش وللعاهر الحجر (۱) اوكله چه ددي اولاد نسب داولني خاوند څخه ثابت دى نو ددى سره رشته كول جائز دى. (وهذا اذا لم يعلم بان لها زوجاً غيره فكيف اذا ظهر زوج غيره فلا شك فى عدم ثبوته من الثانى شامى باب ثبوت النسب (۲) و كذا لا عدة لو تزوج امرأة الغير عالما بذلك (۳) الخ عن العدة، محمد انور عفا الله عنه). فقط

چه سړى دلسو كالو څخه بل ځاى وو او دلته يى بچي وسو نو حلالي به وى اوكه حرامي؟

سوال: (۱۱۴۸) څه فرمايى علماء دين متين، او مفتيان دشرع متين په دي باره كي چه مولانا مولوى اشرف علي تهانوى صاحب سلمه په خپل كتاب بهشتي زيور څلورمه حصه ص(**۵۷**) كي دا مسئله ليكلي ده چه سړى مسافر دى او څه موده كيږى چه كورته نه دى تللي، او دلته يى په كوركي هلك پيداسو نو دا ماشوم بيا هم حرامي نه دي او ددي سړى دى، فرضاً زيد دلسو او ددولسو كالو راهيسي په مسافرى كي دى او دده بچى پيدا سو، چه په دي مينځ كي هغه ديوه منټ دپاره هم كور ته رانغي نو دى هلك ته په څه وجه سره حرامي نه سي ويل كيدى او دى به حرامي نه وى ځكه چه كه چيري دا خيال وكړى، چه ممكنه ده چه سړى دى په تنهايى كي خپلي ښځي ته راغلى وى اوچا ته دى څه علم نه

---

(۱) مشكوة باب اللعان فصل اول. ظفير

(۲) ردالمحتار باب ثبوت النسب ج۲ ص۸۲۸ ط. س ج۳ ص۵۵۲. ظفير

(۳) اما نكاح منكوحة الغير ومعتدته فالدخول فيه لا يوجب العدة ان علم انها للغير لانه لم يقل احد بجوازه فلم ينعقد اصلا (رد المحتار باب المهر ج۲ ص۴۸۳. ط. س. ج۳ ص۱۳۲). ظفير

وی نوپه مسئله مذکوره کي هو داخبره هم نه ده ځکه چه صفا ظاهره ده چه کلونه تیر سوه او هغه کور ته رانغي، ولي چه په دې مسئلي سره په طبیعت کي شك پیدا کیږی او دنورو قومونو دښکاره اعتراض دپاره کافي موقع ده ددی وجه دکرم او دفضل له لاري دمشرح مفصل جواب څخه موږ خبر کړئ!

جواب: کمه مسئله چه تا دبهشتي زیور څخه نقل کړیده هغه صحیح ده، او دشریعت مسئله دا ده چه دچا ښځه ده نو بچی به دهغه بلل کیږي په حدیث پاك کي راغلی دی چه: الولد للفراش وللعاهر الحجر (١) هلك دهغه چا دی چه دچا فراش دی یعني چه دچاپه نکاح کي هغه ښځه ده او دزاني دپاره کانی دی یعني محروم به وی او ده ته به سزا ورکول کیږي، نسب دبچي ددی خاوند څخه ثابتیږي، نو حضرت امام ابو حنیفه رحمه الله ددی حدیث پاك موافق حکم وفرمایی چه دا حدیث صحیح هم دی نو چه خاوند هرچیري وي نو دبچي نسب دهغه څخه ثابتیږي، نو چه کله حضرت نبي کریم ﷺ دا ارشاد وفرمایی ددی خلاف څوك څنګه حکم کولی سی؟ او ددی حدیث پاك او دبهشتي زیور دمسئلي مطلب دا دی چه په حقیقت کي هغه بچی اګرچه ولد الزنا دی مګر موږ ته دا حکم دی چه ده ته حرامي ونه وایو او دښځي دخاوند طرف ته یی منسوب کړو. (٢) فقط

دحمل موده او دحاملی عدت: **سوال**: (۱۱۴۹) دښځي دحمل څومره موده ده؟ او حد دښځي دکرنګ څو کلونه دی؟ او دحمل علامات څومره دی؟ او علامات دکرنګ څومره دی؟

جواب: دحمل دزیات څخه زیاته موده دوه کاله ده او کم ازکم شپږ میاشتي (٣) دی او عدت دحاملی مطلقه یا حامله متوفي عنها زوجها وضع دحمل (٤) ده، او دښځي دکرنګ مطلب راته معلوم نه سوچه څه ته وایی نو ددی وجه څخه څه جواب نه سي ورکول کیدي.

دزنا څخه حمل وسو او ددی څخه وروسته نکاح وسوه او دشپږو میاشتو څخه په کمه موده کي بچي وسو نو دنسب حکم څه دی؟ **سوال**: (۱۱۵۰) یوی ښځي دزنا څخه حمل ونیوی، ددې

(١) مشکوة باب اللعان فصل اول. ظفیر

(٢) ان الفراش علی اربع مراتب وقد اکتفو بقیام الفراش بلا دخول کتزوج المشرقی للمغربیة بینهما سنة فولدت لستة اشهر مذ تزوجها لتصوره کرامة واستخداما الخ (الدر المختار علی هامش رد المحتار باب ثبوت النسب ج۲ ص۸۲۷. ط. س. ج۳ ص ۵۵۰). ظفیر

(٣) اکثر مدة الحمل سنتان الخ واقلها ستة اشهر (الدر المختار علی هامش رد المحتار باب ثبوت النسب ج۲ ص۷۵۷). ظفیر

(٤) وفی حق الحامل الخ وضع جمیع حملها بلا تقدیر بمدة سواء ولدت بعد الطلاق او الموت بیوم او اقل جوهره (ردالمحتار باب العدة ج۲ ص۸۳۱. ط. س. ج۳ ص۵۱۱). ظفیر

ځخه وروسته ددي نكاح وسوه دنكاح ځخه وروسته دشپږو مياشتو ځخه په كمه موده كي بچي پيدا سو نو ددی بچي نسب به دناكح ځخه ثابتيږی اوكه نه؟ او ددي بچي به وارث وی اوكه نه؟

جواب: دنكاح ځخه مخكي چه دزنا ځخه كم حمل دی او ددی حمل ځخه وروسته ورسره نكاح سويده او بيا دشپږو مياشتو ځخه په كمه موده كي پيدا سويدي نودا به ددي ناكح ځخه ثابت نه وي او ددي ناكح ځخه به ميراث نه سي وړلي، او ددی وارثان به مور او ورور اخيافي وی. (۱) فقط

دنسب ثبوت: **سوال**: (۱۱۵۱) الف ديوي ښځي سره نكاح وكړه او هغه اوس دمور او دپلار په كوركي ده چه ب هغه اغوا كړه او بويي تلله، او دالف دخول او خلوت صحيحه وغيره ددی سره ونه سو او الف په خپله هم دخپلي ښځي سره ددخول يا مس وغيره كولو ځخه قطعي انكاری دی ځكه چه دده تحريری بيان سره دشهادته دا دی پيوست دی، او دب په كوركي ددي اولاد پيدا سو، اوس ځه موده وسوه چه هغه ښځه خو مړه سوه خو دهغي دوې لوڼي ژوندی دی اوس الف يا دالف ورور ددی انجونو سره دكمي يوي سره نكاح كولي سي اوكه نه؟ او په نسب كي هغه دواړي انجونی به چاته وركول كيږي؟ چه په دي مسئله كي داستفتناء دوه قوله يو دبل سره مختلف دی چه ددي تفصيل دا دی: دزيد بيان ددي استفتاء په جواب كي دا دی چه هغه انجوني په نسب كي دالف دی ځكه چه بچي دفراش دی كما قال عليه الصلوة والسلام الولد للفراش وللعاهر الحجر (۲) او تفسير دفراش په عقد سره كوی او وايي چه عقد فراش دی لكه ځنګه چه دامام كرخي رحمه الله ځخه په فتح القديركي نقل دی، دويمه دا ده چه هغه دخپلي دعوي په اثبات كي عقد په حكم دوطی او دفراش سره پيژني: وللعقد حكم الوطی او په خپله دعوه كي په تزويج مشرقي او مغربي سره دشامي ځخه ثبوت راوړي (۳) او وايي چي دري واړه امره مطلوب يعني فراش او وطی او نسب ثابت سو، نو ددي وجه ځخه الف يا دالف ورورته ددی انجونو سره نكاح كول جائز نه دی ځكه چه په دی صورت كي هغه دالف لوڼي او دالف دورو وريری دی او ددوی نكاح دده سره حرامه ده.

---

(۱) ولو ولدت لاقل منه (ای نصف حول) لم يثبت (درمختار) لانه تبين ان العلوق كان سابقا على النكاح زيلعي (ردالمحتار باب ثبوت النسب ج۲ ص۸۲۴، ط.س. ج۳ ص۵۴۷). ظفير

(۲) مشكوة باب اللعان فصل اول. ظفير

(۳) كتزوج المغربي بمشرقية بينهما سنة فولدت لستة اشهر مذ تزوجها لتصوره كرامة او استخداماً الخ (الدر المختار على هامش ردالمحتار باب ثبوت النسب ج۲ ص۸۲۷، ط.س. ج۳ ص۵۵۰). ظفير

دعمر جواب بالعکس دی او وایی چه دا انجوني په نسب کي دب دی نو الف یا دالف
ورور ددوی دنکاح کولو مجاز دی، او په صورت مسئوله کي الف داولاد څخه محروم
دی اګرچه الف عقد صحیح ولي نه لری ځکه چه بلا فراش صرف دنکاح څه اعتبار نسته
بلکه په حقیقت کي فراش ددخول کیدل غوره دی او دا خبري دالف څخه تر یا پوري په
ثبوت نه سي رسیدلي، نو ددي وجه موږ دا ویلي سو چه دا اولاد دب دي ځکه چه
مستفرش حقیقي ب دی نو ددی وجه څخه اولاد دمستفرش حقیقي کیدل په کار دی اګر
چه په مقتضي دحدیث نبوي فاسد ولي نه وی: الولد للفراش وللعاهر الحجر، معني دا
ده چه زوج اول مستفرش وی او دښځي څخه غائب نه وو، لکه څنګه چه فقهاؤ په
صراحت سره فرمایلي دی چه: رجل غاب عن امراته فتزوجت باخری وولدت اولاداً ثم جاء
الزوج الاول فالاولاد للثانی علی مذهب الذی رجع الیه الامام وعلیه الفتوی کما فی
الخانیة والجوهرة والکافی وغیرها وفی حاشیة شرح المنار لابن حنبلی وعلیه الفتوی ان
احتمله الحال لکن فی اخر المجمع حکی اربعة اقوال ثم افتی بما اعتمده المصنف
وعلله ابن ملك بانه المستفرش حقیقة فالولد للفراش الحقیقی وان کان فاسداً وتمامه
فیه فراجعه (درمختار) ([1]) وظاهره ان المفتی به الولد للثانی مطلقا وان جاءت به لاقل
من ستة اشهر من وقت العقد کما یدل علیه ذکر الاطلاق قبله والاقتصار علی التفصیل
بعده، شامی ([2]) که چیري زید په خپله دعوی کي دمشرقي او دمغربیة صورت راوړی دی
او وایی چه دقیام دفراش دپاره دمشرقي او دمغربیة په صورت کي نکاح بلا دخول
حجت کیدلي سي نو موږ ددي په جواب کي وایو چه لکه څنګه چي په شامي کي راغلی
دی: قوله بلا دخول المراد نفیه ظاهراً وان لا فلابد من تصوره وامکانه ولذا لم یثبتوا
النسب من زوجة الطفل ولا ممن ولدت لاقل من ستة اشهر الخ والحق ان التصور شرط
ولذا لو جاءت امرأة الصبی الولد لا یثبت نسبه والتصور ثابت فی المغربیة لثبوت
کرامات الاولیاء والاستخدامات فیکون صاحب خطوه او جنی شامی ([3]) نو په دي دعوه
کي نسب دب ثابت دی نو الف ته دب دلوڼو سره نکاح په هر شان سره جائز ده او دا شان
دالف ورورته هم، دا دوه قوله دی نو په دې دواړو قولونو کي کم یو مقبول او کم یو
مردود دی؟

جواب: په صورت مسئوله کي هردواړه قوله یعني دزید اودعمر دواړه قوله په باره دنسب

([1]) الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب ثبوت النسب ج٢ ص٨٢٨. ط. س ج٣ ص٥٥٢. ظفیر
([2]) ردالمحتار باب ثبوت النسب ج٢ ص٨٢٨. ط. س ج٣ ص٥٥٢. ظفیر
([3]) رد المحتار باب ثبوت النسب ج٢ ص٨٢٧. ط س. ج٣ ص. ٥٥٠ و ٥٥١. ظفیر

کي دڅو وجوهو څخه بالکل مردود او مطرود دی ځکه چه دنسب ثابتولو دپاره فراش چه مقارن دعلوق سره وی ضروری دی موږ ددواړو بیانونه په واضح طور باندي ردوو دزید دعوی په دی باره کي چه دا عقد حکم دوطی لری دڅو اسبابو په وجه غلط ثابتیږي اول که چیري عقد مطلقه ته که حکم دوطی وی نو دطلاق قبل الدخول په صورت کي عدت لازمیږی حالانکه نص ددی په رد کي شاهد ناطق دی: قوله تعالی یا ایها الذین امنوا اذا نکحتم المومنٰت ثم طلقتموهن من قبل ان تمسوهن فما لکم علیهن من عدة تعتدونها (۱) الآیة، همدارنګه که چیري دعقد دپاره حکم دوطي وی نو په حرمت دربیبه کي به ددي دمور دخول شرط نه وای: وربائبکم التی فی حجورکم من نسائکم التی دخلتم بهن فان لم تکونوا دخلتم بهن فلا جناح علیکم، الآیة (۲) او همدارنګه په دی ثبوت کي دسنن ترمذی حدیث دحلالی دپاره دخول مشروط ثابت کړی دی: کما قال علیه الصلوة والسلام لا حتی تذوقی عسیلته و یذوق عسیلتك (۳).

دویم په خپله دعوی کي دفراش تفسیر په عقد سره بیانوی موږ وایو چه دفراش په تفسیر کي دعقد راوړل غیر تام دی البته دعقد دفرش په اجزاؤ کي یو ضروری جزء دی، لکه څنګه چه په فتح القدیرکي یې دفراش تعریف کړی دی آیا هغه دده ترنظر نه دی تیر سوی، ابن الهمام رحمه الله فرمایي چه: الفراش یثبت مقارنا للنکاح المقارن للعلوق (۴) په دی وجه یې دفراش دپاره علوق کیدل ضروری ګڼلی دی او چونکه دزید په دعوی کي علوق مطلقاً مفقود دی، ددی وجه هغه ددي په اثبات کي چنداني مفید نه سي کیدی، دریم ورسره زید دخپلي دعوی په دلیل کي دکرخي دقول مطابق دفراش تفسیر په عقد کول دجمهورو دتفسیر مخالف دی، ابن الهمام فرمایي: تفسیر الفراش بالعقد کما فسر الکرخی اعنی العقد هو الفراش مخالف لتفسیرهم السابق له فی فصل المحرمات بکون المرأة بحیث یثبت نسب الولد منها اذا جاءت به فان هذا لکون یثبت بعد العقد لا مع العقد (فتح القدیر باب ثبوت النسب). (۵)

څلورم دا چه زید دخپلي دعوی دپاره دمشرقي او دمغربیه په صورت استدلال کوی او عقد بلا دخول مفید ثابتول غواړي لیکن موږ وایو چه دلته ددي دعوی په ثبوت کي دا

---

(۱) سورة الاحزاب رکوع ۳. ظفیر

(۲) سورة النساء رکوع ۴. ظفیر

(۳) ترمذی باب ما جاء فی من یطلق امرأته ثلاثا الخ ص ۱۸۰. ظفیر

(۴) فتح القدیر ص ۳۰۱ باب ثبوت النسب. ظفیر

(۵) فتح القدیر باب ثبوت النسب ص ۳۵۱. ظفیر

صورت په طریقي ددلیل سره راوړل هر گز نه سی رشتیا کیدی ځکه یو په دي کي تصور او امکان ددخول ثابت دي او دښځي دماشوموالي په صورت کي دعدم تصور او دنه امکان په وجه سره نسب نه سي ثابتیدی، اوفیما نحن فیه کي تصور او امکان پخپله دالف سره دانکار دصحبت او ددخول دوجه څخه قطعًا مفقود دی، علاوه ددې څخه ښځه دالف په قبضه دغیرکي ده په صورت مسئوله کي او ښځه دمشرقي ددي خلاف ده ترده لاندي او خپله په تصرف دده کي ده همدارنگه مشرقي منکر ددخول څخه نه دی نو په دی صورت کي هر دواړه صورتونه مختلف واقع سوه، او باوجود دمذکوره پورته دلیل دا ښودل هم ضروری دی چه که چیري عقد مطلق ته حکم دوطی وی نو په ثبوت دنسب کي به دلاندیني صورت دپاره حاجت دتکلیف نه وای لاحق: سوی من قال ان تزوجت فلانة فهی طالق فتزوجها فولدت ولد الستة اشهر من یوم تزوجها فهو ابنه وعلیه المهر اما النسب فلانها فراشة والتصور ثابت بان تزوجها وهو یخالطها وطیًا وسمع الناس کلامها فوافق الانزال النکاح والنسب یحتاط فی اثباته هکذا فی الهدایة ملخصا (¹) نو نسب په دی صورت کي ثابتیدلی سی کله چه علوق مقارن بالنکاح وی او تصور دعلوق مقارنًا بالنکاح په پورتني صورت کي ثابتیدلی سی لکه څنگه چه په فتح القدیر جلد دوم ص۳۸۴ کي علامه ابن همام فرمایی چه: واذا فیکون العلوق مقارنا للنکاح فیثبت النسب وتصور العلوق ثابت بان تزوجها وهو یخالطها وطیًا وسمع الناس کلامها فوافق الانزال النکاح الاحسن تجویزاً انها وکلامه فباشر الوکیل ولهما کذلك فوافق عقد الانزال، هو! هغه په دي صورت کي دنکاح څخه وړاندي مرتکب دگناه او دمخالطت دحرمت باعث جوړ سو، نور علامه موصوف فرمایی چه: قال بعض المشائخ لا یحتاج الی هذا التکلیف بل قیام الفراش کاف ولا یعتبر امکان الدخول بل النکاح قائم مقامه کما فی تزوج المشرقی مغربیة لثبوت کرامات الاولیاء والاستخدامات فیکون صاحب خطوة او جنی (فتح القدیر) (²) په دي پورتني صورت کي دابن همام دتقریر څخه دا امر ښه ثابت سو، او ورسره ددلیل دزید او ددلیل دمشرقي او دمغربیه صورت دپوښتنل سوی صورت څخه متبائن ثابت سو چه دالف خپل انکار ددخول دخلوت او مس و غیره څخه هرگز دا امر په دی صورت کي نه ثابتیږي او تصور په صورت مسئوله کي قطعًا مفقود دي، دزید دبیانولو حقیقت ښکاره سو او دده استدلال مردود سو۔

اوس دعمر دفتوی په باره کي ضرور ویل کیدی سی چه په صورت مسئوله کي دانجونو

(¹) وگوری باب ثبوت النسب. ظفیر
(²) فتح القدیر ج۳ ص۳۰۱ باب ثبوت النسب. ظفیر

دالف یا دالف دوروور سره نکاح کیدی سی ځکه چه الف صرف دعقد سره دعقد څخه محروم النسب دی او په مجرد نکاح سره دعدم دخول او عدم تصور ددخول دوجه څخه هغه په هیڅ صورت کي دانجونو پلار نه سي جوړیدی او نه دده وروور، کله چه یې ډیر ځله دا بیان کړیدي چه الف دمسماة مسئوله سره صرف نکاح لرله او دخپلو بیانونو سره یې ددخول وغیره څخه قطعي براءت ښکاره کوي نو موږ په دي صورت کي دعمر دفتوي څخه صرف ددی شق یعني جواز دنکاح دالف یا دالف دوروور سره کوو، لیکن دده قول هم ددی امر متعلق چه هغه انجوني هم دب دی موږ په څو وجوهو سره رد کوو:

اقول و بالله التوفیق: دعمر دا بیان چه دا انجوني دب دی هرګز صحیح نه دی ځکه چه اول خو ب په ظاهره سره دعلمه دنکاح دالف سره دمسماة مذکوره اصرار کوونکی پرکبائرو یعني زنا کوونکی دی او هغه دالف منکوحه تښتولي او بیولی ده، ده لره په نسب کي څه دخل دی بلکه دده دپاره په مضمون دکلام قدسي نظام: وللعاهر الحجر، دده دپاره دحجر (سنګسار) سزا ده.

دویم دا چه هغه مستفرش حقیقي نه دي ځکه چه دفراش په لوازمو کي موږ په تفصیل سره ذکر کړی دی چه هغه دنکاح څخه وروسته ثابتیږي حالانکه ب خو اغواء کوونکی او زاني دی دریم دا چه هغه دخپلي دعوي په اثبات کي: رجل غاب عن امرأته فتزوجت باخری الخ قول دشامي سند راوړیدی ددی څخه وروسته په صورت مسئوله کي استشهاد راوړل ګواکي دزید تقلید کول دي ځکه چه هغه دمشرقي او دمغربي صورت دلته هیڅکله نه صادقیږي بلکه په صفا طور باندي تبائن دی ځکه چه ب ته دالف دنکاح دمسماة مذکوره سره ښه علم او یقین دی او په مذکوره صورت کي خو دې ښځي ته قاضي دمفقود په حیثیت سره دفسخ دنکاح حکم ورکړی او دبل سړی سره یی تزویج کړی وو، او تزویج دغائب دښځي دبل سره ثابت سوی امر دی حالانکه په ما نحن فیه کي ددي بالکل برعکس دی ولی چه ب زاني او اغواء کوونکی دی همدارنګه تزویج کونکی خو په دی شان او طریقه باندي دب نسب ثابت سو، نو پورته مذکورو امورو ته په نظر کولو سره موږ دې نتیجي ته ښه ورسیدو چه الف او ب دواړه دنسب په وجه سره ددی انجونو څخه بالکل محروم دی، ځکه چه دالف صرف عقد عقد دی او دب نکاح نسته بلکه علوق او دخول دی نو په دی صورت کي ددواړو فراش ثابت نه سو، البته الف او دالف وروور ددی دواړو انجونو سره نکاح کولی سي اوب زاني دي او دزاني جزاء به په مصداق د: للعاهر الحجر، حجر وی. فقط

* * *

جواب: دحضرت مفتي صاحب دمدرسه اسلاميه ديوبند لخوا ځخه:

بسم الله الرحمن الرحيم

اقول وبالله التوفيق: په صورت مسئوله كي جواب اول يعني دزيد جواب صحيح دی، شرعًا نسب ددی انجونو دالف ځخه ثابت دي او دالف يا دالف دورور سره ددوی نكاح په هيڅ شان هم صحيح كيدي نه سي، لقوله عليه الصلوة والسلام الولد للفراش وللعاهر الحجر ([1]) قال فی الدرالمختار ان الفراش على اربع مراتب ضعيف الخ ومتوسط الخ، وقوی وهو فراش المنكوحة فانه فيه لا ينقضى الا باللعان شامی ([2]) (ج۲ ص۶۳۰) وفی صفحة ۲۹۳: قال فی البحر لو تزوج بامرأة الغير عالما بذلک ودخل بها لا تجب العدة عليها حتى لا يحرم على الزوج وطيها و به يفتی ولانه زنا والمزنی بها لا تحرم على زوجها ([3]) الخ وفی باب العدة منه اما نكاح منكوحة الغير ومعتدته فالدخول فيه لا يوجب العدة ان علم انها للغير لانه لم يقل احد بجوازه فلم ينعقد اصلا ([4])، وفيه ايضا والتصور ثابت فی المغربية لثبوت كرامات الاولياء الخ وفی الدر المختار عن البحر متى سقط اللعان بوجه ما الخ لم ينتف نسبه ابدًا فلو نفاه ولم يلاعن حتى قذفها اجنبی بالولد فحد فقد ثبت نسب الولد الخ وفيه قالوا وصرحوا ببقاء نسبه بعد القطع فی كل الاحكام لقيام فراشها الا فی حكمين الارث والنفقة فقط الخ ([5]) قوله فی كل الاحكام فيبقى النسب بين الولد والملاعن فی حق الشهادة والزكوة والقصاص والنكاح الخ شامی ([6]).

دمذكوره رواياتو ځخه واضحه ده چه په صورت مسئوله كي دزيد جواب صحيح دی او دعمر جواب صحيح نه دی او دده داستدلال په روايت د: رجل غاب عن المرأة فتزوجت باخری ([7])، ځخه جواب مجيب الثالث وركړيدي او احقر چه كم روايات دنكاح دمنكوحة الغير دبطلان او ددی دزنا كيدلو په اثبات كي نقل كړيدي نو په دي سره هم ترديد دعمر داستدلال ظاهر دی او دمجيب ثالث دا فيصله چه دواړه جوابونه صحيح نه دی او تجويز دنكاح دانجلی دالف سره او دالف دورور سره صحيح دی، په دی صورت كي خو دنسب

([1]) ترمذی ص۱۸۲. ظفير

([2]) رد المحتار ج۲ ص۸۲۷. ط. س. ج۳ ص۵۵۰. ظفير

([3]) وګورئ الدر المختار على هامش رد المحتار باب ثبوت النسب ج۲ ص۸۴۵. ط. س. ج۳ ص۵۲۷. ظفير

([4]) رد المحتار ج۲ ص۸۳۵. ط. س. ج۳ ص۱۳۲. ظفير

([5]) الدرالمختار على ها مش ردالمحتار باب اللعان ج۲ ص۸۱۵. ط س. ج۳ ص۴۹۳. ظفير

([6]) رد المحتار باب اللعان ج۲ ص۸۱۵ ط. س. ج۳ ص۴۹۳. ظفير

([7]) الدر المختار على هامش ردالمحتار فصل فی ثبوت النسب ج۲ ص۸۲۸، ط س ج۳ ص۵۵۲. ظفير

دنفي څه صورت نسته او دفقهاؤ دتصریح څخه خو دا ثابته سوه چه که چیري په وجه دلعان سره نسب هم منقطع سي نو بیاهم نکاح په مابین دملاعن او دولد کي حرامیږي کما مر عن الدر المختار. فقط

په مسئوله صورت کي نسب ثابت دی اوکه نه؟ **سوال:** (۱۱۵۲) عبد الرحمن وفات سو دری ورونه داکا زامن او یوه لور او دوې ښځي یی پاته سوي، دویمه ښځه یی حامله وه وروسته تروفات دهغې لور پیدا سوه په ورونو او داکا په زامنو کي تفصیل دی او هغه په دي طریقه چه یو ددوی ټولو څخه الله داد دی چه دحنین نومي ښځي دګیډي څخه دی چه دغه ښځه مطلقه وه مخکي تراتمام دعدت دخاوند اولني متوفي اکا په نکاح کړی وه او دوې ددغه ټولو څخه دګیډي څخه دحنین ښځي دي چه پرنکاح دمور ددغو هرو دواړو ثبوت دشاهد نه سته، اوس نسب دآل دهرو درو واړو داکا متوفي څخه ثابت دی او که نه؟ او دمال دمتوفي څخه دغه دري کسان میراث وړلی سی او که نه؟

جواب: په دی موجوده صورت کي که چیري پلار دعبد المجید او عبد الغفار مدعي دنکاح دمور ددوی وو، نسب ددوی دپلار خپل څخه ثابت دی، او دترکې (میراث) دعبد الرحمن څخه به دوجه دعصوبت دمیراث مستحق وي: قال لغلام هو ابنی ومات المقر ففالت امه الخ انا امرأته وهو ابنه یرثانه استحسانا الخ درمختار [1] وفیه ایضا لانها شهادة بالنفی معنی فلا تقبل والنسب یحتال فی اثباته مهما امکن والامکان بینهما بسبق التزویج سرا بمهر یسیرا الخ [2] او داحکم او قاعده په الله داد کي جاري ده ځکه چه تجدید دنکاح وروسته دعدت څخه ممکن دی، نو ددوی پلار دعوه دزوی والي کړیده نو نسب ثابت دی. فقط

دچا څخه چي حمل ونیسي نو بچي دهغه دي: **سوال:** (۱۱۵۳) زید دهندی دکونډې ښځي سره نکاح وکړه وروسته دحمل کیدو څخه هنده دخپل ورور کره ولاړه، ددي ورور دزید څخه په ایام حمل کي طلاق واخیستی وروسته دوضع دحمل څخه دهندې نکاح یی دبکر سره وکړه بکر دابچي دزید ښیی او زید هم وایی چه دی زما زوی دی او دده اخیستل غواړي نوپه دی صورت کي څه حکم دی؟

جواب: هغه هلك دزید دی اوزید دده ولي دی مګر حق دپرورش تراوو کالو پوري اول دمور حق دي مګر مورکه چیري دبچي دغیر محرم سره نکاح وکړي نو بیا دده حق ساقطیږي دمور څخه وروسته دانا (دمور دمور) او بیا دپلار دمور او بیا دخور بیا دمور

(۱) الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب ثبوت النسب ج۲ ص۸۲۵، ط.س. ج۳ ص۵۴۹. ظفیر
(۲) ردالمحتار فصل في ثبوت النسب ج۲ ص۸۲۳، ط.س. ج۳ ص۵۴۷. ظفیر

دخور بیا دپلار دخور حق دی، اوکه په دغه ښځوکي څوك نه وی نو پلار یې اخیستلی سی پرهر حال بکر ته څه حق دبچي دمنع کولو نسته په در مختارکي دي: او متزوجة بغیر محرم الصغیر الخ (۱).

چه کم بچي دخاوند سره داوسیدو په زمانه کی پیدا سو نو هغه دده دی: **سوال**: (۱۱۵۴) دیو سړی دوه هلکان دي یو په عمر دلسو کالو دي او بل په عمر داتو یا دنهو میاشتو دی، او سړی مذکور نه خپلي ښځي ته ډوډی او جامه ورکوي او هرقسم تکلیف ورته رسوي او هغه سړي دخپل کوچني بچي په نسبت کي دا وایی چه دی زما څخه نه دي پیدا سوی دی حرامي دي نو په دي صورت کي څه حکم دي؟ اوښځه دویمه نکاح کول غواړي خو دي طلاق نه ورکوي نو ددي نکاح جائز ده اوکه نه؟

جواب. ددي بچي داته یا نهو میاشتو نسب ددي سړي څخه ثابت دي او دده انکار غیر معتبر دي (۲) او دویمه نکاح ددي ښځي بغیر دطلاق ورکولو دخاوند څخه صحیح نه ده په هر طریقه چه وي دخاوند څخه دي طلاق واخلي. (۳)

دولد الزنا سره نکاح صحیح ده او نسب یې دپلار څخه کیږي: **سوال**: (۱۱۵۵) دولد الزنا سره نکاح صحیح ده اوکه نه؟ او دنسب اعتبار دمور څخه دي اوکه دپلار څخه؟

جواب: دانجلی ولد الزنا سره نکاح صحیح ده او اعتبار دنسب یې دپلار څخه کیږي نوکه چیري پلار دشریف خاوندان څخه دي او فرضاً ښځه دده صحیح النسب نه ده نو داولاد په نسب کي به څه خرابي او خلل نه وي. (۴)

دطلاقوڅخه مخکې چه کم هلک پیدا سو نو هغه دخاوند دی: **سوال**: (۱۱۵۶) زید خپلي ښځي ته طلاق ورکړی اوس هغه ښځه دعوه کوي چه هلك دزید دنطفی څخه دي او دده دخوراك او دپوشاك دعوه یې په عدالت کي دائره کړي ده خو څه پوره ثبوت نسته نوڅه حکم دي؟

جواب: په دي صورت کي شرعاً نسب ددغه هلك دزید څخه ثابت دي او دښځـــــي دعوه

---

(۱) الدر المختار علی هامش رد المحتار باب الحضانة ج۲ ص۸۷۳، ط، س، ج۳ ص۵۵۷. ظفیر

(۲) واذا تزوج الرجل امرأة فجاءت بولد الخ ان جاءت به لستة اشهر فصاعداً یثبت نسبه منه اعترف الزوج او سکت الخ فان جحد الولادة یثبت بشهادة امرأة واحدة تشهد بالولادة حتی لو نفاه الزوج یلاعن لان النسب یثبت بالفراش القائم (هدایه باب ثبوت النسب ج۲ ص۴۱۱). ظفیر

(۳) واما نکاح منکوحة الغیر ومعتدته الخ لم یقل احد بجوازه فلم ینعقد اصلا (رد المحتار باب العدة ج۲ ص۸۳۵، ط، س، ج۳ ص۱۳۲). ظفیر

(۴) کما فی قوله تعالی: وعلی المولود له رزقهن، الایه، سیق لاثبات النفقة وفی ذکر المولود له اشارة الی ان النسب للاباء (حاشیه رد المحتار باب الحیض ج۱ ص۲۷۵، ط، س، ج۳ ص۲۹۸). ظفیر

صحیح ده لکه څنګه چه په درمختارکي دي: کما یثبت بلا دعوة احتیاطا فی مبتوتة جاءت به لاقل منهما من وقت الطلاق (۱) ددي حاصل دا دي چه که چیري دمطلقه بائنه دوخت دطلاق څخه ددوو کالو څخه په کمه موده کي بچي پیدا سو نو هغه دخاوند دی.

دجمع بین الاختین والا داولاد نسب: **سوال**: (۱۱۵۷) زید جمع بین الاختین وکړه او ددواړو څخه اولاد وسو، نوآیا دا ښځي او اولاد جائز ثابتیږي اوکه نه؟ او دزید دترکي وارثین به وي اوکه نه؟

جواب: جمع بین الاختین حرامه ده، دکمي سره چي یې وروسته نکاح کړیده هغه باطله ده او اولنۍ نکاح صحیح ده، داولنۍ ښځی څخه چه کم اولاد وسو هغه صحیح النسب دي او دپلار دترکي وارث دي او دویمه ښځه چه دکمي سره یې وروسته نکاح وسوه نو ددي څخه چه کم اولاد وسو نو هغه صحیح النسب نه دي او ارث نه دي. (۲)

دپردیس سړي دښځي دزنا څخه بچي وسو، ددي نسب: **سوال**: (۱۱۵۸) یو سړی په یوښار کي ملازم وو اوخپلي ښځي ته یې برابره خرچه رالیږله، دلته دده ښځي دبل سړي سره زنا وکړه او زوی یې پیدا سو، اوس هغه سړی نوکري پریښوده او کورته راغی اوس نو په څه طریقی سره خپله ښځه دځان سره بوزي او ویې ساتي؟ او نسب ددي دزوی دده څخه ثابت دي اوکه نه؟

جواب: قال فی رد المحتار حیث قسم الفراش علی اربع مراتب، وقوی وهو فراش المنکوحة ومعتدة الرجعی فانه فیه لاینتفی الا باللعان الخ اقول وعن شرائط اللعان کون القذف فی دارالاسلام اخرج دارالحرب لانقطاع الولایة الخ شامی (۳) وفی الدر المختار و قد اکتفوا بقیام الفراش بلا دخول کتزوج المغربی بمشرقیة بینهما فولدت لستة اشهر مذ تزوجها لتصوره کرامة او استخداماً فتح الخ. (۴) نو معلومه سوه چه په مسئوله صورت کي نسب دزوي به دخاوند څخه ثابت وي اګرچه خاوند دا ووایي چه دا زما څخه نه دي. فقط

چه دمفتوح ښځه زنا وکړي او ددي اقرار هم وکړي نو ددي داولاد نسب به دزاني څخه وي اوکه نه ددي دخاوند څخه؟ **سوال**: (۱۱۵۹) دزید دوه زامن دي یو مفتوح او بل فاتح او

---

(۱) الدرالمختار علی هامش رد المحتار باب ثبوت النسب (ج۲ ص۸۵۸ ط، س، ج۳ ص۵۴۱). ظفیر

(۲) فان تزوج اختین فی عقدتین ولا یدری ایتهما اولی فرق بینه و بینهما لان نکاح احدهما باطل بیقین الخ (هدایه فصل فی المحرمات ج۲ ص۲۸۸). ظفیر

(۳) ردالمحتار باب اللعان ج۲ ص۸۰۲، ط، س، ج۳ ص۵۵۰. ظفیر

(۴) الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب ثبوت النسب ج۲ ص۸۲۷، ط، س، ج۳ ص۵۵۰. ظفیر

دعمر يوه لور ايلي ده دمفتوح نكاح دايلي سره وسوه او فاتح دايلي سره زنا وكړه او دي ته دفاتح څخه حمل پاته سو، نو په دي صورت كي ددي حمل ذمه وار څوك دی؟ آيا مفتوح ايلي ته طلاق وركړي اوكه په هم صحبت كيدو سره هغه پرمفتوح باندي حرامه سويده؟ دثبوت دزنا څخه مخكي دمفتوح دمنكوحي يوه انجلۍ پيدا سوه او مړه سوه نو هغه به دچا څخه وي ددي دپيدا كيدو څخه وړاندي هم فاتح پرايلي باندي په بد نيت باندي حمله كړي وه اودايلي مهردمفتوح پرذمه دي اوكه نه؟ اودبچي نفقه دچاپرذمه ده؟

جواب: په حديث پاك كي دي چه: الولد للفراش وللعاهر الحجر ([1]) او فقهاء رحمهم الله هم ددي قاعدي موافق دمنكوحي داولاد نسب دخاوند څخه ثابت كړيدي، ددي وجه په صورت مسئوله كي دايلي داولاد نسب دمفتوح څخه ثابت دي او حمل چه اوس موجود دي دا هم دمفتوح دی، او دمفتوح پرذمه ايلي ته طلاق وركول ضروري نه دي او صحبت كول يې دايلي سره جائز دي، اوبالفرض كه چيري دمفتوح دورور فاتح زنا دايلي سره ثابته سي بياهم پر مفتوح باندي دده زوجه حرامه نه سوه او دايلي مهر دمفتوح پر ذمه واجب الادا دی، او چه بچي پيدا سي نو دده دپالني نفقه به هم پر ذمه دمفتوح وي. ([2])

<u>ددويم خاوند څخه داولاد نسب</u>: **سوال**: (١١٢٠) يوي ښځي خپل خاوند پريښودی او په بل ځاي كي يې اوسيدل اختيار كړه وروسته دڅو مياشتو څخه هغه ښځي خپل خاوند ته يو څو سړي ورولېږل چه دهغي طلاق واخلي هغه سړي دهغه ځاي څخه راغلل او مذكوره ښځه يې يوبل كس ته په نكاح وركړه او دارنګه دغه كس او اولاد ددغه كس چه ددغه ښځي دخېټي څخه پيدا سويدي تقريبا ديرش كاله خوراك څښاك او زندګي تيروله اوس دهغه دوو كسانو څخه يوكس صرف ددنيوي دښمنۍ دوجه څخه وايي چه كله موږ ددي ښځي دطلاق دپاره اولني خاوند ته تللي وو، نو په هغه وخت كي خاوند طلاق ورنكړی موږ فريب كړيدي او بل يوكس يې زوج كړيدي نور دوه كسان يې ګواه كړيدي او دقاضي څخه يې حكم راوړي چه زوج ثاني ته مي په نكاح وركړيده او هغه ښځه وايي چه زه په دغه معامله نه پوهيږم مګر باوجود ددي چونكه زوج اول زما قصبې ته راغلي وو اوددوو دريو سړيو په وړاندي بل طلاق ما اخيستی وونورجوع ددغه كس به معتبرېږي

([1]) پوره حديث دا دی: عن عمرو بن شعيب عن ابيه عن جده قال قام رجل فقال يا رسول الله ان فلانا ابنى عاهرت بامه فى الجاهلية فقال رسول الله ﷺ لا دعوة فى الاسلام ذهب امر الجاهلية الولد للفراش وللعاهر الحجر (رواه ابوداود مشكوة باب اللعان ص۲۸۷). ظفير

([2]) واذا تزوج الرجل امرأة فجاءت بولد الخ ان جاءت به لستة اشهر فصاعداً يثبت نسبه منه اعترف الزوج او سكت الخ لان النسب يثبت للفراش القائم (هدايه باب ثبوت النسب ج۲ ص۴۱۱). ظفير

اوكه نه؟

جواب: په دي صورت كي ددغه څو كسانو رجوع كوونكو قول نه معتبريږي او داولاد نسب به دثاني خاوند څخه ثابت وي: لان النسب يحتاط فی اثباته كما فی ردالمحتار فصل ثبوت النسب تنبيه لا تسمع بينته ولا بينة ورثته علی تاريخ نكاحها بما يطابق قوله لانها شهادة علی النفی معنی فلا تقبل والنسب يحتال لاثباته مهما امكن والامكان هنا يسبق التزوج بها سراً بمهر يسير وجهراً باكثر سمعة ش يقع ذلك كثيراً وهذا جوابی لحادثة فليتنبه له شرنبلاليه الخ ردالمحتار (۱) جلد ۲. فقط

دچا سره يی چه زنا كړي وه نو دهغې سره يی دحمل څخه وروسته نكاح وكړه نو دبچي نسب نه ثابتيږي: **سوال**: (۱۱۲۱) يو سړي په ناجائزه طريقه باندي ديوي ښځه سره بد فعلي وكړه او حمل پاته سو نو دي زاني نكاح ددي ښځي سره وكړه نو په دي صورت كي هغه بچي حلالي سو اوكه حرامي؟ او دمذكوره سړی دجايداد څخه دغه ماشوم ته حصه وركول كيدی سي اوكه نه؟

جواب: ددي سړی نكاح ددي حاملي ښځي سره صحيح سوه خو چه كم حمل دنكاح څخه مخكي سوی دي هغه ثابت النسب نه دي اوچه كم بچي پيدا سو نو هغه ولد الحرام دي او وارث نه دي كما في الحديث المشهور "الولد للفراش وللعاهر الحجر" (۲). فقط

په زنا سره نسب نه ثابتيږي: **سوال**: (۱۱۲۲) هنده خپل حمل په باره دزيد كي قبل ازنكاح دناجائزي نطفي څخه ثابتوي او زيد ته ددې څخه انكار دي او دهر يوه خپل خپل بيانات حلفيه دي نو شرعاً به دچا بيان قابلِ تسليم وي؟

جواب: دزنا څخه نسب نه ثابتيږي لقوله عليه الصلوة والسلام: الولد للفراش وللعاهر الحجر (۳)، نو هغه حمل دزيد څخه دي او دزاني څخه به ثابت النسب نه وي او دهنده څخه دده نسب ثابت دي ځكه چه دولد الزنا نسب صرف دمور څخه ثابتيږي او هغه بچي دمور دميراث مستحق كيږي. فقط

ښځه چه دكم سړي څخه دزنا دعوه كوي نو دده څخه دبچي نسب نه ثابتيږي: **سوال**: (۱۱۲۳) دسكيني خاوند بكر وفات سو، سكينه او ددي ليور يو ځاي اوسيدل سكينه نورو كسانو ته تلله او راتلله، چه په دي مينځ كي دسكينې يوه انجلۍ حرامه پيدا سوه سكينه وايي چه دزيد نطفه ده اوقسم خوري اوزيد هم قسم وكی چه مازنا نه ده كړي اوس

(۱) ردالمحتار فصل ثبوت النسب ج۲ ص۸۲۳، ط، س، ج۳ ص۵۴۷. ظفير
(۲) ردالمحتار فصل ثبوت النسب ج۲ ص۸۲۳، ط، س، ج۳ ص۵۴۷. ظفير
(۳) مشكوة كتاب اللعان فصل اول. ظفير

سکینه دپرورش خرچه دزید څخه غواړي، نو شرعا څه حکم دي؟

جواب: په محض شبهي سره یا دښځي په ویلو سره دزید زاني کیدل نه ثابتیږي او دزنا سره چه کم بچي پیدا سو، نو دده نسب دهیڅ چا څخه ثابت نه دي او پرزید دده خرچه او نفقه نسته، او دمور څخه دده نسب ثابت دي او دمور پر ذمه باندي ددی خرچه ده. ([1]) فقط

دقادیاني سره نکاح صحیح نه ده او نه دده دبچي نسب ثابتیږي: **سوال**: (۱۱۲۴) یو سړي چه دابتداء څخه یی دقادیاني مذهب لرلو تقیه وکړه یعني مذهب یی پټ کړی او دیو اهل السنت والجماعت مسلمان دلور سره یی نکاح وکړه، خو قادیاني سړي اوس مذهب دقادیانیت لري آیا دانکاح ابتداءً صحیح سوه اوکه نه؟ او ددي بچي پرورش دچا پرذمه دی؟

جواب: نکاح مذکوره صحیح نه سوه او مهر او نفقه هیڅ څه نه لازمیږي او اولاد به صحیح النسب او ثابت النسب نه وي خو دمور څخه به داولاد نسب ثابت وي او دمور پر ذمه به پرورش او نفقه دبچي لازمه وي او وراثت به دمور څخه جاري کیږي: کما فی الدر المختار ویرث ولد الزنا واللعان بجهة الام فقط لما قدمناه فی العصبیات انه لا اب لهما ([2]). فقط

دنکاح باوجود که چیري خاوند ووایی چي دا بچي زما نه دی نو څه حکم دي؟ سوال: (۱۱۲۵) چه کمه انجلۍ دزید دهندې سره په ښه نکاح پاته کیدوکي پیدا سوه ددي جیني نسب ددې څخه ثابت دي اوکه نه؟ زید پرهنده دا تهمت لګوي چه ته زانیه یی او دا انجلۍ ستا دنطفي څخه نه ده؟

جواب: ددي انجلۍ نسب دزید څخه ثابت دی. ([3])

دڅلورو ښځو په موجودګۍ کي دپنځمي سره واده او ددې څخه چه اولاد وسو ددغه اولاد دنسب حکم: **سوال**: (۱۱۲۶) دیو سړی څلور ښځي موجودي دي او ددې څخه یی اولاد هم دي نو ددغو څلورو ښځوپه موجودګۍ کي دپنځمی ښځي سره یې نکاح وکړه او ددي څخه یی هم اولاد پیل سو، اوس مذکور سړی مړ سو، نو دغه پنځمه ښځه او ددغه اولاد میراث وړلي سي اوکه نه؟ او ددغي پنځمي ښځي اولاد حلال دي اوکه نه؟ او ددغه

([1]) ویرث ولد الزنا واللعان بجهة الام فقط لما قدمناه فی العصبیات انه لا اب لهما (الدرالمختار علی هامش رد المحتار باب فی الغرقی والحرقی و غیرهم ج۵ ص۷۰۰، ط، س، ج۲ ص۷۹۹ و ۸۰۰). ظفیر

([2]) الدر المختار علی هامش رد المحتار کتاب الفرائض ج۵ ص۷۰ ۵، ط، س، ج۲ ص۷۹۹ و ۸۰۰. ظفیر

([3]) الولد للفراش وللعاهر الحجر (ترمذی باب ما جاء ان الولد للفراش ص۱۸۲). ظفیر

پنځمي ښځي سره نکاح فاسده وه اوکه باطله؟ دهر یوه احکام جلا جلا داقسامو دمیراث او دعدت او دنسب وغیره بیان کړئ؟

جواب: په درمختارکي دي: ویجب مهر المثل فی النکاح الفاسد الخ وهوالذی فقد شرطا من شرائط الصحة کشهود بالوطی قوله کشهود ومثله تزوج الاختین معا ونکاح الاخت فی عدة الاخت ونکاح المعتدة والخامسة فی عدة الرابعة الخ وان النسب لیثبت فیه والعدة ان دخل الخ شامی (۱) ج۲ ص۳۵۰، الحاصل دا چه په دي باره کي دفقهاؤ اقوال مختلف دي دبعضو عبارتونو څخه ثبوت دعدت او ثبوت دنسب ظاهرېږي او دبعضو څخه ددي عکس لیکن په باب دنسب کي چونکه احتیاط کیږي او مهما امکن دنسب ثابتیدو دپاره داولاد نسبت به ثابتیږي او دمیراث حکم به کیږي او نکاح فاسده او باطله ده، او دعدې څخه ماسوا په نورو امورو کي څه فرق نسته: کما فی الشامی ج۲ ص۳۵۰ والحاصل انه لا فرق بینهما ای الفاسد والباطل فی غیر العدة اما فیها فالفرق ثابت الخ. (۲) فقط

دمطلقي ثلاثه سره بغیر دحلالي څخه ددوباره نکاح څخه چي کم بچي وسي ددي څه حکم دي؟ **سوال**: (۱۱۲۷) کم سړی چه خپلي ښځي ته دري طلاقه ورکړي او بیا نکاح وکړي نو اولاد به حلال وي اوکه نه؟

جواب: دمطلقه ثلثه سره بغیر دحلالی څخه دوباره نکاح کول حرام دي او گناه ده او وروسته دنکاح څخه چه کم اولاد وسي نو نسب دده به احتیاطا ثابت وي. (۳) فقط

په حالت دکفرکي دخاوند څخه چه کم بچي وسي، نو ددي نسب به دده څخه وي: **سوال**: (۱۱۲۸) یوه هندوه ښځه په حالت دبلوغ کي په خپله خوښه سره هندو مذهب پریښودی او داسلام مبارك دین یی قبول کړی، اوس ددوو څلورو ورځو څخه یی دالهي بخش سره نکاح وکړه وروسته دنکاح څخه یی بیان وکړی چه زما داولني هندو خاوند څخه ددوو میاشتو حمل دي نو داوو میاشتو په تیریدلو باندي انجلۍ پیدا سوه، نو دا انجلۍ دچا ده اودا نکاح دنوي مسلماني دالهي بخش سره جائز سوه اوکه نه؟

---

(۱) رد المحتار باب المهر مطلب فی النکاح الفاسد ج۲ ص۴۸۱، ط، س، ج۳ ص۱۳۱. ظفیر

(۲) ایضا ج۲ ص۴۸۲، ط، س، ج۳ ص۱۳۲. ظفیر

(۳) وعدة المنکوحة نکاحا فاسدا الخ لکن الصواب ثبوت العدة والنسب (الدر المختار علی هامش رد المحتار باب العدة ج۲ ص۸۳۵، ط، س، ج۳ ص۵۱۶) قال الحلوانی هذه المسئلة دلیل علی ان الفراش ینعقد بنفس العقد فی النکاح الفاسد الخ فهذا صریح فی ثبوت النسب فیه (رد المحتار باب العدة ج۲ ص۸۳۲، ط، س، ج۳ ص۵۱۷). ظفیر

جواب: داحنافو دفقهاؤ دتصريح په موافقت سره چه ددي نو مسلمي داسلام راوړلو څخه درې څلور ورځي وروسته چه دالهي بخش سره ددي نكاح وسوه نو باطله او ناجائز سوه او نسب ددي ښځي دلور داول خاوند څخه دي. (^١) فقط

بچي يې دزنا څخه وسو مګر په دواړو کي چاته اقرار نسته نو بچي به دخاوند وي: **سوال**: (۱۱۶۹) دزيد زوى دبهر څخه شپږ مياشتي يا دكال څخه وروسته واپس راغي ده ته معلومه سوه چه دزما ښځي سره زما پلار بد حركت يعني بد فعلي وكړه او ددي دوه ګواهان يو دزيد كوچني زوي او يو دزيد ښځه ده، خو معلومه نه ده چه ده دكمي وجه څخه خپله ښځه پري نه ښودله او ددې دخاوند دنطفى څخه يو هلك پيدا سو او دزيد نطفه نه وه بنده سوى او ښځي دخپل فعل اقرار نه كوي او زيد هم اقرار نه كوي نو په دي حالت كي هغه هلك به حلالي وي اوكه حرامي؟ او دزيد دفعل څخه طلاق وسو اوكه نه؟ اومهر واجب دي اوكه نه؟ اودداسي سړي سره زوي ته څه سلوك كول په كار دي اوكه نه؟

جواب: هغه بچي به دخاوند دنطفي څخه ثابتيږي او دده نسب به هم دده څخه ثابتيږي او حرامي به نه ګڼل كيږي او هغه ښځه دخاوند دنكاح څخه خارجه نه سوه او مهر پرذمه دخاوند لازم دى ځكه چه كله هغه ښځه او زيد اقرار دزنا نه كوي اوكافي ګواهي موجوده نه ده نو زنا ثابته نه ده، اوچه كله زنا ثابته نه ده نو زوى ته دپلار دطرفه څخه بدګماني نه دي كول په كار او بد سلوكي نه دي كول پكار. فقط

دنكاح څخه شپږ مياشتي چه كم بچي وي نو هغه حلالي وي: **سوال**: (۱۱۷۰) يوې كونډې بالغي ښځي ديو سړي سره نكاح وكړه چه بيا په اوو مياشتو او څلورو ورځو كي ددي لور پيدا سوه او دعقد څخه وړاندي دا مشهوره وه چه ددي حمل دي نو اوس دنكاح كوونكي او دښځي دخاندان والا سره متاركت (تعلق قطع) كول څنګه دي؟

جواب: په شريعت مطهره كي دحمل موده كم ازكم شپږ مياشتي دي دنكاح څخه شپږ مياشتي وروسته چه كم بچي دښځي پيدا سو نو هغه ددي دخاوند څخه دي او نسب ددى بچي دده څخه ثابت دي: قال عليه الصلاة ولسلام: الولد للفراش وللعاهر الحجر (^٢) نو په موجب ددي حديث مبارك هغه انجلۍ ددي دخاوند څخه ده چه دچا دنكاح چه اوه مياشتي او څلور ورځي وسوي او په دي كي څه شك كول نه دي په كار، او پر ښځي دزنا

(^١) ومن هاجرت الينا مسلمة حاملا بانت بلاعدة فيحل تزوجها اما الحامل فحتى تضع على الاظهر لا للعدة لشغل الرحم بحق الغير (درمختار) فان هذه حملها ثابت النسب (رد المحتار باب نكاح الكافر ج۲ ص۵۳۸، ط. س، ج۳ ص۱۹۳). ظفير

(^٢) ترمذى باب ماجاء فى ان الولد للفراش ص۱۸۲. ظفير

تهمت لګول نه دي په کار، او دښځي أو دخاوند او ددوی درشته دارانو سره متارکت نه دی په کار ځکه چه دا ګناه ده. فقط

دغير مطلقي سره واده كول صحيح نه دي او ددي اولاد به ولد الزنا وي: **سوال**: (۱۱۷۱) زيد دخپلي ښځي خبرګيري نه کوله، دناچاري دوجي ځخه پلار زيد ته وويل چه ته خپله ښځه را وبله او يا ورلره طلاق ورکړه چه ددي دويم عقد وکړو او هغه مهر معاف کوي زيد وويل که غواړي هغه دي کسب وکړي اوکه غواړي دويمه نکاح دی وکړي زموږ بلا ورپسي، ښځه دمحمود سره په دويمه نکاح راضي سوه او محمود هم راضي سو خو دکوشش باوجود يې چا نکاح ونه لوستله مجبوراً دواړو يو بل ته ښځه او خاوند ويل شروع کړه او يو ځای اوسيدل، زيد هم خاموش سو او اولاد ددي ښځي هم وسو دشلو کالو ځخه زياته موده تيره سوه او دوی دواړه سره دخپلو بچيانو په شان دښځي او دخاوند اوسيدل غالبا چه زيد وفات هم سو نو آيا دا اولاد حلالي دي اوکه نه؟ او دخپل پلار زيد دترکې وارث به وي اوکه نه؟ په ائمه اربعهؤ کي چه دچا په نزد هم جائز وي نو وې ليکی؟

جواب: زيد ځه صفا خبره ونه کړه چه په هغه سره دطلاق دوقوع حکم وکړل سي اوکله چه زيد طلاق ورنه کړی نو دويم عقد دده دښځي شرعا درست نه سو ([1]) او په صورت مسئوله کي نکاح يې هم نه ده کړي او دغسي هغه ښځه دمحمود سره اوسيږي او يو بل ته ښځه او خاوند وايي، نو په دي صورت کي چه کم اولاد وسو نو هغه ولد حرام دي او نسب داولاد دمحمود ځخه ثابت نه دي، لهذا په دوی کي ميراث هم نه جا ري کيږي ([2]).

دشپږو مياشتو ځخه په کم وخت کي چه بچي ونه سو هغه ثابت النسب نه دي: **سوال**: (۱۱۷۲) دزيد دخور سره عمر په ۲۱ دشعبان کال ۱۳۳۷ هجري کي عقد وکړی او دزيد دخور په صفر کال ۱۳۳۸ هجري کي لور پيدا سوه، نو نکاح دعمر ساقطه سوه که جائز پاته سوه؟

جواب: نکاح صحيح ده په نکاح کي ځه فرق رانغي، ليکن هغه لور چه وروسته دنکاح ځخه دشپږ مياشتو ځخه په کم کي وخت پيدا سوی ده نسب ددي دعمر ځخه شرعًا ثابت نه دي. ([3])

([1]) اما نكاح منكوحة الغير الخ فلم يقل احد بجوازه اصلا (رد المحتار باب العدة ج۲ ص۸۳۵، ط، س، ج۳ ص۱۳۲). ظفير

([2]) ويرث ولد الزنا واللعان بجهة الام فقط لما قدمناه فى العصبيات انه لا اب لهما (سراجى، ردالمحتار ط، س ج۲ ص۷۹۹ – ۸۰۰). ظفير　=

دولد الزنا څخه چه کم اولاد وسو نو هغه ثابت النسب دي: **سوال**: (۱۱۷۳) زید دهنده پیغلي انجلۍ ناواده سوی سره زنا کوله نوکله چه هنده خپل ځان دپنځو شپږو میاشتو حامله محسوس کړی نو زید ته یې وویل چي په دي حالت کي به ما زما پلار او ورور مړه کړي نو لهذا ته ما وتښتوه او ولاړ سه اوکه داسي نه وي نو زه خودکشي کوم نو په دي وجه باندي هنده زید وتښتوله او بویی تلله دهنده څخه بکر پیدا سو کله چه هنده مړه سوه نو بیا زید وطن مألوفه ته راغي، دزید نکاح دهنده سره ددي ترمرګ پوري معلومه نه وه چه ایا ددي نکاح وروسته ددي څخه هم وسوه اوکه نه؟ په دي وخت کي دنکاح دنه کیدو دوه وجه دي یو دا چه ددي زماني خلګ مړه سویدي چه دهغي داویا کاله دمودي څخه زیاته زمانه تیره سویده دویمه دا چه دهنده نکاح نه په دغه وخت کي مشهوره وه او نه اوس او زید په خپل ژوند کي بکر دخپلو املاکو څخه محروم کړی وو، زید چه کله راغی نو دویم واده یې په وجه دشرع شریف وکی چه دهغه څخه یې دري زامن پیدا سوه یو خو مړ سو او باقي دوه زامن عمر او خالد ژوندي دي چه دپلار دمیراث متصرف او قابض دي بکر چاته چه ولد الزنا ویل کیږي په بل ځای کي یی خپل واده وکی چه دهغه څخه یې دوه زامن شاکر او حارث پیدا سوه او پخپله مړ سو دزید دمرګ څخه وروسته په دي وخت کي شاکر د۴۵ کالو او حارث د۳۸ کالو دي اوس شاکر او حارث دعمر او خالد څخه ورثه دجد طلب کوي نو آیا شرعًا دواړه مدعیان وارث کیدی سي اوکه نه؟ او په مسئوله صورت کي نکاح دهنده دزید سره ثابتیدی سي اوکه نه؟

جواب: په دي صورت کي شاکر او حارث چه دبکر زامن دي او مدعیان دوراثت دي دوی ته به حصه دترکه دزید څخه نه ورکول کیږي یعني چه څومره قدر حصه بکر ته ورسیده نو ددي وارث دده دواړه زامن شاکر او حارث به وي اوکله چه شاکر او حارث مدعي ددي امر دي چه زموږ پلار بکر دزید زوی وو او صحیح النسب وو دده حصه موږ ته رسیدل په کار دي نوپه شریعت کي به ددوي قول معتبر وي او دعوه به صحیح وي ځکه چه فقهاؤ لیکلي دي چه دنسب په باره کي ډیر احتیاط کیږي نوکله چه علم ددې نسته چه دزید دهنده سره نکاح وسوه که نه نو دزید نکاح به دهندي سره شرعًا تسلیمیږي او داسي به ګڼل کیږي چه دزید نکاح به دهندې سره خفیه سوی وي یعني ددوه ګواهانو په وړاندي چه دهغه خبر په عام طورسره مشهور نه سو، نو حاصل دا دی چه که چیري دزید

(۳) اکثر مدة الحمل سنتان الخ واقلها ستة اشهر اجماعا (درمختار باب المهر ج۲ ص۵۵۷، ط، س، ج۳ ص۵۴۰). ظفیر

يو هلك يعني دعمر او خالد ورور دزيد په حيات کي وفات سوی وو نو په دي صورت کي دزيد دوفات څخه وروسته دده وارث دري زامن سوه بکر عمر او خالد دې دري واړو ته به حصه برابره دترکه دزيد څخه ورکول کيږي اوحصه دبکر به دده زامنو شاکر او حارث ته ورکول کيږي په شامي جلد ثاني باب ثبوت النسب کي دي چه: لا تسمع بينته ولا بينة ورثته على تاريخ نكاحها بما يطابق قوله لانها شهادة على النفى معنى فلا تقبل والنسب يحتال لاثباته مهما امكن الخ (۱) ص۲۲۷، حاصل دا دي چه په نفي دنکاح باندي شهادت نه معتبريږي او دزيد محروم کول بکر لره داملاکو څخه شرعا معتبر نه دي، نو وروسته دمرګ دزيد څخه به بکر وارث دده وي. فقط

دنکاح څخه شپږ مياشتي وروسته چه کم بچي وي نو هغه به ثابت النسب وي: سوال: (۱۱۷۴) که چيري دنکاح څخه شپږ مياشتي وروسته هلك پيدا سو نو هغه به ثابت النسب وي اوکه نه؟

جواب: هغه بچي به ثابت النسب وي، دناکح څخه دده نسب ثابت دي. (۲) فقط

دمعروف النسب نسب دچا په ويلو سره نه ختميږي: سوال: (۱۱۷۵) دزيد دزباني او تحريري تقرير څخه او دسرکاري کاغذاتو څخه دعمر دزيد زوي کيدل ثابتيږي، آيا ددوو درو ښځينه نرسانو په وينا چه په رجسټر دپيدايش کي دمور په نوم سره داخله ده نو دی دپلار دپاره زوي کيدي سي اوکه نه؟ او دپلار دوينا څخه دښځينه نرسانو وينا زياته اعتبار والا کيدي سي اوکه نه؟ او تمام اهل بلد يعني دښار اوسيدونکي وغيره عمر دزيد زوی تسليموي نرسانی ښځي هم عمر ته دوقف څخه تنخوا ورکوي اګر چه زيد دعمر دستاويزات په وقف کي محروم کړی وي، په دې صورت کي عمر دزيد زوی او نسب دعمر دزيد څخة ثابت دی اوکه نه؟

جواب: په شامي کي دي: والنسب يحتال فی اثباته مهما امکن (۳) يعني په نسب ثابتولو کي ترکمه پوري چه ممکن وي احتياط کيږي او نسب ثابتيږي نو دمعروف النسب نسب دښځو نرسانو په وينا سره نه سي نفي کيدي او کله چه دزيد زباني او تحريري اقرار دعمر دزوی کيدلو دي او عام خلق هم دی پيژني نو اوس هغه نسب دهيچا په نفي کولو سره اوانکارکولو سره نه منتفي کيږي او زيدکه چيري دده څه حصه دستاويذات په وقف

---

(۱) ردالمحتار باب ثبوت النسب ج۲ ص۸۲۳ - ۸۲۴، ط، س، ج۳ ص۵۴۷. ظفير

(۲) فولدت لنصف حول مذ نكها لزمه نسبه لتصور الوطئ حالة العقد ولو ولدته لاقل منه لم يثبت (الدر المختار على هامش ردالمحتار فصل فی ثبوت النسب ج۲ ص۸۲۴، ط، س، ج۳ ص۵۴۷). ظفير

(۳) رد المحتار فصل فی ثبوت النسب ج۲ ص۸۲۴. ظفير

کي کنبيښول نو په دي سره دعمر نسب دزيد څخه منتفي نه سو . فقط

دنکاح څخه وروسته چه بچی دزنانه وسو نو هغه به هم شرعًا ثابت النسب وي: سوال: (۱۱۷٦) هنده دزيد منکوحه غير مدخوله ده زيد وروسته دعقد څخه مفقود سو ولاړی کله چه واپس راغی نو دايی حامله وليده او طلاق يی ورکړی نو شرعًا دا حمل ثابت النسب دي اوکه نه دزنا څخه دی؟ دهنده نکاح مخکي دوضع دحمل څخه دزاني يا دغير زاني سره صحيح ده اوکه نه؟ او دداسي ښځي دپاره عدت دطلاق سته اوکه نه؟

جواب: شرعًا مذکور حمل ثابت النسب دي: لقوله عليه الصلاة والسلام الولد للفراش وللعاهر الحجر ([1]) هکذا في کتب الفقه، او چونکه هغه حمل ثابت النسب دي او مطلقه مذکوره په عدت کي ده او عدت ددي په وضع دحمل باندي پوره کيږي لهذا نکاح ددي مخکي تروضع دحمل زاني او غير زاني سره صحيح نه ده، قال الله تعالی: ولا تعزموا عقدة النکاح حتی يبلغ الکتاب اجله ([2]). فقط

په نکاح باطل سره چه کم اولاد وسو نو ده ته به ثابت النسب ويل کيږي: سوال: (۱۱۷۷) زيد او هنده دواړه په قرابت کي دعمه (دپلار دخور) بچي ورور او خور دي او دواړو ديوې مور شيدې چيښلي دي دزيد نکاح دهنده دخور زبيده سره وسوه او دپنځو بچيانو دکيدو څخه وروسته په ياد راغلل چه زيد او هنده ديوي ښځي شيدې څيښلي دي ددي نکاح څه حکم دی؟ او دا بچيان حلالي دي که حرامي او نکاح دانجونو دثابت النسب هلکانو سره جائز ده اوکه نه؟

جواب: کله چه زيد او هندي ديوي ښځي شيدې وڅيښلي په حالت دماشوموالي کي نو رضاعي ورور او خور سوه او دهندي لور دزيد رضاعي خورزه سوه، لهذا نکاح دزيد دهندي دلور سره ناجائز او باطله ده او په ثبوت النسب کي اختلاف درواياتو دي غوره دا ده چه نسب داولاد ثابت وويل سي او اولاد ته ولد الحرام ونه ويل سي او نکاح ددي انجونو دصحيح النسب هلکانو سره صحيح ده. ([3]) فقط

په زمانه دعدت کي دنکاح کولو څخه چه کم اولاد وي ددي نسب: سوال: (۱۱۷۸) که چيري زيد ديوي مطلقی سره په عدت کي نکاح وکړه اوفورًا يی حمل ونيوی نو دانکاح جائز ده

([1]) ترمذی باب ما جاء ان الولد للفراش ص۱۸۲. ظفير

([2]) سورة البقرة : ۲ – ۲۳۵. ظفير

([3]) والنسب يحتال لاثباته مهما امکن (ردالمحتار فصل فی ثبوت النسب ج۲ ص۸۲۴، ط، س، ج۳ ص۵۴۷) ان الدخول فی النکاح الفاسد موجب للعدة وثبوت النسب الخ (ردالمحتار باب العدة ج۲ ص۸۳۵، ط، س، ج۳ ص۵۱۲). ظفير

اوکه نه؟ او اولاد به حلالي وي اوکه نه؟

جواب: هغه نکاح ناجائزه او باطله ده او داولاد نسب ثابت دي (١). فقط

دخاوند دمرګ څخه وروسته په دوه کاله کي چه بچي وي نو هغه ته ثابت النسب ويل کيږي:

سوال: (۱۱۷۹) دعمر دوفات کيدو څخه دوه ويشت مياشتي وروسته دعمر دښځي هندي کونډي هلك پيدا سو، نوشرعاً داهلك به دعمر متصور کيږي اوکه نه څه حکم دي؟

جواب: ښځه متوفي عنها زوجها که چيري ددوه کالو څخه په کم کي يې بچي پيدا سو نو هغه دخاوند متوفي عنها څخه ثابت النسب دي او ولد الحرام ويل ده ته صحيح نه دي او په صورت مسئوله کي چونکه په دوه ويشتو مياشتو کي بچي پيدا سو چه ددوو کالو څخه کمه موده ده نو باليقين نسب ددي بچي دخاوند متوفي څخه ثابت دي: قال فی الدر المختار ويثبت نسب ولد معتدة الموت لاقل منهما من وقته ای الموت الخ (٢) يعني ثابتيږي نسب دولد دمتعدي دمرګ ددوه کالو څخه په کم کي. فقط

ددويم خاوند دشپږو مياشتو څخه په کمه موده کي چه بچي وي اويا داولني خاوند دوفات څخه ددوو کالو څخه په زياته موده کي وي، نو ثابت النسب به نه وي: **سوال**: (۱۱۸۰) يو سړي دحاملي ښځي سره نکاح وکړه نو څلور پنځه مياشتي وروسته بچي پيدا سو ددي څخه وروسته خاوند دي ښځي ته طلاق ورکړی او په وخت دولادت دمخکني خاوند دانتقال دوه کاله يا څه کمه موده کيږي نو لهذا هغه بچي به دمخکی خاوند څخه وي اوکه ددويم خاوند څخه؟ اود ده نفقه به دچا پرذمه وي او وارث به دچا وي؟

جواب: دحامله متوفي عنها زوجها سره نکاح صحيح نه ده او چه کم بچي دنکاح ثاني څخه دشپږو مياشتو څخه په کمه موده کي پيدا وي نو هغه ددويم خاوند څخه دي او داولني خاوند څخه دکيدلو دپاره دا شرط دي چه داولني خاوند دوفات څخه ددوو کالو څخه په کم کي هغه بچي پيدا سوی وي، اوکه چيري پوره په دوو کالو کي يا ددي څخه وروسته پيدا سو نو هغه بچي داولني خاوند څخه نه دي، دده طرف ته يې نسبت نه کيږي او نه ددويم خاوند دي بلکه ولد الزنا دي او په دي دواړو کي دهيچا پرذمه هم دده نفقه نسته، اوکه چيري داولني خاوند دوفات څخه ددوو کالو څخه په کم وخت کي هغه بچي پيدا سو نو داولني خاوند څخه نسب دده ثابت دي او دده وارث به وي. (٣)

---

(١) ومثل له فی البحر هناك بالتزوج بلاشهود تزوج الأختين معا او الاخت فی عدة الاخت ونکاح المعتدة الخ ای ان الدخول فی النکاح الفاسد موجب للعدة وثبوت النسب (ردالمحتار باب العدة ج۲ ص۸۳۵، ط، س، ج۳ ص۵۱۲). ظفير

(٢) الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب ثبوت النسب ج۲ ص۸۲، ط، س، ج۳ ص۵۴۳. ظفير　=

(۱۱۸۱) **دنکاح څخه لس میاشتي وروسته چه کم بچي وي نوهغه صحیح النسب دي: سوال:** زید خپله ښځه خپل ورور خالد ته حواله کړه جنګ ته ولاړی لس میاشتي وروسته یې بچي پیدا سو مخالفین وایی چه دا بچي دخالد دي او خالد او زینب دواړه زاني او زانیه دي نو ددي وجه څخه خالد دوروروليی څخه ایستل څنګه دي او بچی دزید دی اوکه دخالد؟

جواب: شرعًا هغه بچي دزید دي او نسب دده دزید څخه ثابت دي: لقوله علیه الصلوة والسلام الولد للفراش وللعاهر الحجر ([1]) نوخالد او زینب ته زاني او زانیه ویلو والا دګناه کبیره مرتکب دي، دوي لره توبه ایستل په کار دي او ددي ناجائزه تهمت لګولو په وجه خالد دوروروليی څخه ایستل ناجائز دي او داهل وطن دي مولود ثابت النسب ته ولد الحرام ویل دصریح حدیث "الولد للفراش" خلاف دي لهذا هغه عاصي او فاسق دي توبه دي وباسي. فقط

دخاوند سره دیوځای کیدو څخه اوه میاشتی وروسته چه کم بچي وي هغه دخاوند دي:

سوال: (۱۱۸۲) یوه ښځه وروسته ترواده ددوو کالو پوري دخپل خاوند سره وه بیا تر دوو کالو پوري دخاوند سره په جګړه کولو باندي دمور او پلار په کورکي وه بیا کله چي دخاوند کورته راغله نو په اوه نیمو میاشتو کي بچي پیدا سو، دا بچي دخاوند دي اوکه نه دغیر دي؟

جواب: شرعًا به هغه بچي دخاوند ګڼل کیږي او نسب دده څخه ثابت دي: لقوله علیه السلام الولد للفراش، الحدیث ([2]). فقط

دبچي نسب دپلار څخه وي: سوال: (۱۱۸۳) دزید پلار شیخ یا سید دي نو زید او دده اولاد شیخ یا سید شمارل کیږي او که نه؟

جواب: نسب دپلار دطرفه وي نو چه دچا پلار شیخ اویا سید دي هغه هم شیخ اویا سید دي او دده نور اولاد مخ ته هم. ([3])

دطلاقو څخه وروسته ددوه کالو څخه په کمه موده کي چه بچي وي نو هغه به حلالي وي که حرامي؟ سوال: (۱۱۸۴) وروسته دطلاق بائن څخه په دوران دعدت کي بلا عقد ثاني په

([3]) ویثبت نسب ولد معتدة الموت الاقل منهما من وقته ای الموت اذا کانت کبیرة (درمختار) لاقل منهما ای من سنتین (ردالمحتار فصل فی ثبوت النسب ج۲ ص۸۲، ط، س، ج۳ ص۵۴۳). ظفیر

([1]) ترمذی باب ما جاء ان الولد للفراش ص۱۸۲. ظفیر

([2]) ترمذی باب ماجاء ان الولد للفراش ص۱۸۲. ظفیر

([3]) عن النبی ﷺ قال الولد لصاحب الفراش الفراش کنایة عن الزوج (بخاری مع حاشیة ج۲ ص۹۹۹). ظفیر

زيد او هنده کي تعلق دښځي او دخاوند قائم سو؟ نوددوی اولادحلالي دي اوکه حرامي؟
جواب: دطلاق دوخت څخه که چيري ددوو کالو څخه په کمه موده کي بچي پيدا سو نو دده نسب دخاوند مطلق څخه ثابت دی او هغه بچي ولد الحلال دي اوکه چيري ددوه کالو څخه په زياته موده کي پيدا سو، نو دده په دعوي سره به نسب ثابتيږي کني نو نه ثابتيږي يعني که چيري مطلِق وويل چه دا بچي زما دي نو نسب به ثابت وي کنه نو نه ثابتيږي کما فی الدرالمختار کما يثبت بلا دعوة احتياطا فی مبتوتة جاءت لاقل منهما من وقت الطلاق الخ ولو لتمامها لا يثبت النسب الخ الا بدعوته لانه التزمه (درمختار) وله وجه بان وطأها بشبهة فی العدة هدايه وغيرها، (شامي). (۱) فقط

<u>داکا په کړل سوی نکاح کي خيار بلوغ</u>: **سوال**: (۱۱۸۵) دمسماة عائشي نابالغي دپلار انتقال سوی وو ددي اکا او مور وغيره موجود وه، چه دعائشه صغيره اکا ددي نکاح په جزيره مورس کي کړی وه، مگر دعائشی مور وغيره په دي نکاح باندي ناراضه وه او نه ددي په مشوري سره نکاح سوی وه، دعائشي مور دوو عالمانو ته دا واقعه بيان کړه او مسئله يې معلومه کړه او دنکاح فسخ کول يې وغوښتل، مولويانو صاحبانو وويل چه نکاح خو سوی ده ليکن که چيري نکاح فسخ کول غواړي نوچه کله انجلۍ بالغه سي نو بيا يې په يو عالم باندي فسخ کړه ځکه چه په دي وخت کي شرعي قاضي څوك نسته، نوچه کله انجلۍ بالغه سوه نو ددي انجلۍ په استدعاء باندي علماؤ مذکورينو نکاح فسخ کړه او دعائشی اکا ته مورس ته يې خبر ورورسوی نو هغوی خاموشي وکړه په دې زمانه کي حافظ محمد سليمان صاحب په افريقه کي وو، ده ته ددي واقعې مطلقا خبر نه ؤ، څلور پنځه کاله وروسته چه کله حافظ صاحب واپس راغی نو دمذکورينو علماؤ او دراندير داوسيدونکو دا رأيه سوه چه دعائشي نکاح دي دحافظ صاحب سره وسي ځکه چه په قرباؤ کی دی، دغه دوه علماء مذکور او نور علماۤء په دی اتفاق وه چه اوله نکاح فسخ سوی ده لهذا هغه ټول په دي کوشش کي وه چه نکاح دعائشي دحافظ سره وسي او مسماة عائشي هم ددي وجه څخه چه هغي دا گڼله چه زما اوله نکاح فسخ سوی ده او دحافظ صاحب سره په نکاح کولو باندي راضي وه، خلاصه دا چه دحافظ صاحب سره نکاح دمسماة عائشي وسوه او په دي نکاح کي دراندير سورت اواطرافو علماء شريك وه دحافظ صاحب يوه لور دمسمات عائشي څخه هم پيدا سوه چه موجوده ده ددی مسمات عائشي انتقال وسو نواوس سوال دادی چه په دي صورت کي نکاح اول دمسماة

---

(۱) وگوری الدر المختار علی هامش ردالمحتار فصل فی ثبوت النسب ج۲ ص۸۵۸، ط، س، ج۳ ص۵۴۱. ظ

عائشه فسخ سوه اوکه نه؟ او دویمه نکاح صحیح سوه اوکه نه؟ او ددی انجلۍ نسب دحافظ صاحب څخه ثابت دي اوکه ؟

جواب: درو ایات دفقه څخه دا ظاهره ده چه داکا کړل سوي نکاح نابالغه وروسته دبلوغ څخه فسخ کولی سی، لیکن ددی فسخ دپاره قضاء دقاضي شرط ده بغیر دقضاء دقاضي څخه هغه نکاح نه فسخ کیږي کما فی الشامی فان اختار الفسخ لا یثبت الفسخ الا بشرط القضاء فلذا فرع علیه لقوله فیتوارثان فیه ای فی هذا النکاح قبل ثبوت فسخه [1] بل څوك عالم په دي باره کي دقاضي په قائم مقام جوړیدو سره نکاح نه سي فسخ کولی، البته که چیري فریقین یو څوك حکم مقرر کړي نو حکم قائم مقام دقاضي کیدي سي او حسب قاعده نکاح فسخ کولي سي په هر حال په صورت مسئله کي نکاح سابقه فسخ نه سوه، لیکن په داسي غلطي کي که چیري په لاعلمي سره یی ددویم سړي سره نکاح وکړي او ددویم خاوند اولاد وي نو دمفتي بها روایت موافق نسب داولاد ددویم خاوند څخه ثابت دي، نو په صورت مسئوله کي ددي انجلۍ نسب دحافظ محمد سلیمان صاحب یعني دزوج ثاني څخه شرعًا ثابت دي ولد الزناء ویل دي ته ناجائز او حرام دي په درمختار کي دي: غاب عن امرأته فتزوجت باخر وولدت اولادًا ثم جاء الزوج الاول فالاولاد للثانی علی المذهب الذی رجع الیه الامام وعلیه الفتوی کما فی الخانیة والجوهرة والکافی وغیره الخ وفی الشامی قوله غاب عن امرأته شامل لما اذا بلغها موته اوطلاقه فاعتدت وتزوجت ثم بان خلافه ولما اذا ادعت ذلك ثم بان خلافه شامی جلد ثانی ص۶۳۱ فصل [2] فی ثبوت النسب وایضا فی الدرالمختار فی بیان حکم النکاح الفاسد لکن الصواب ثبوت العدة والنسب وفی الشامی فهذا صریح فی ثبوت النسب [3] فیه الخ وفی الدر المختار والموطوئة بشبهة و منه تزوج امرأة الغیر عالما بحالها الخ. [4] ددي عبارتونو څخه واضحه سوه چه په صورت مذکوره في الحال کي نسب دانجلۍ ددویم خاوند حافظ محمد سلیمان څخه ثابت دی. فقط

په دوه کاله کي دننه چه کم بچي پیدا سي نو هغه دپلار کیري: **سوال**: (۱۱۸۶) زید خپله ښځه ددي مور اوپلار ته حواله کړه په سفرولاړی، پنځلس میاشتي وروسته واپس راغی

([1]) رد المحتار باب الولی ج۲ ص۴۲۱، ط. س، ج۳ ص۷۱. ظفیر
([2]) وګورئ: ردالمحتار علی هامش الدرالمختار فصل فی ثبوت النسب ج۲ ص۸۶۸، ط. س، ج۳ ص۵۵۲. ظ
([3]) وګورئ ردالمحتار علی هامش الدرالمختار باب العدة مطلب في النکاح الفاسد والباطل ج۲ ص۸۳۶، ط. س، ج۳ ص۵۱۶ و۵۱۷). ظفیر
([4]) الدر المختار علی هامش رد المحتار باب العدة ج۲ ص۸۳۶، ط. س، ج۳ ص۵۱۷. ظفیر

نو دده دښځي هلك پيدا سو اوس زيد وايي چه دا هلك زما څخه دي، دده ښځه وايي چه دا هلك ستا دي، نو اوس به دغه هلك دزيد ګڼل کيږي اوکه نه ولد الزنا؟

جواب: هغه هلك دزيد دي او ولد الزنا نه دي او دزيد څخه دده نسب ثابت دي او شرعًا تردوو کالو پوري بچي دمور په خيټه کي پاته کيدي سي هکذا في کتب الفقه [۱].

چي کم بچي دنکاح څخه ځلور مياشتي وروسته پيدا سو نو هغه صحيح النسب نه دي: **سوال**:

(۱۱۸۷) ديوي انجلۍ مور او پلار ددي نکاح ديو هلك سره وکړه، چه دنکاح څخه وروسته په ځلور مياشتي کي دننه ددي انجلۍ زوی روغ رمټ مع کل عضو په مثل دبچي دنهو مياشتو پيدا سو او ژوندي دي نو دداسي بچي نسب به ثابت وي اوکه نه؟ او دين دمهر چه کله په ايام دحمل حرام کي وسو ددي هلك يعني دخاوند په ذمه واجب به وي اوکه نه؟ او په ايام حمل کي چه کمه نکاح وسوه دا صحيح ده اوکه نه؟

جواب: په دي صورت کي ددي نکاح وسوه نوکه چيري خاوند ددي سره وطی کړيده نو مهر تام پرذمه دخاوند باندي لازم سو: قال فی الدرالمختار وصح نکاح حبلی من زنا لا حبلی من غيره الخ وان حرم وطئها حتی تضع (الی ان قال) لو نکحها الزانی حل له وطؤها اتفاقا الخ [۲] خو چونکه بچي دشپږو مياشتو څخه په کمه موده کي پيدا سوی دي دنکاح دوخت څخه نو نسب يې ددي خاوند څخه ثابت نه دي: هکذا فی کتب الفقه قال فی الدر المختار اکثر مدة الحمل سنتان واقلها ستة اشهر اجماعًا (درمختار) [۳] وفی باب المهر منه ويتاکد عند وطی او خلوة صحت من الزوج الخ [۴]. فقط

خاوند دمرګ څخه دوه کاله وروسته چه کم بچي وسو نو دده څخه نسب به ثابت نه وي:

سوال: (۱۸۸) يوي ښځي ته ددي دخاوند دوفات په وخت دځلورو مياشتو حمل ؤ دخاوند دوفات څخه ځلور کاله دري مياشتي وروسته هلك پيدا سو نو دغه هلك به ثابت النسب او دخپل پلار وارث به وي اوکه نه؟

جواب:اکثره موده دحمل عندالحنفيه دوه کاله دي، دخاوند دمرګ څخه وروسته که چيري

(۱) اکثر مدة الحمل سنتان الخ فيثبت نسب ولد معتدة الرجعی الخ وان ولدت لاکثر من سنتين الخ کما يثبت بلا دعوة احتياطًا فی مبتوتة جاءت به لاقل منهما الخ (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب ثبوت النسب ج۲ ص۸۵۷، ط، س، ج۳ ص، ۵۴۰ و ۵۴۱). ظفير

(۲) الدر المختار علی هامش ردالمحتار فصل فی المحرمات. ظفير

(۳) الدرالمختار علی هامش ردالمحتار فصل فی ثبوت النسب ج۲ ص۵۵۷، ط، س، ج۳ ص۵۴۵، والا بان رلدته لاقل من ستة اشهر يثبت النسب وهذا قول محمد وبه يفتی، باب المهر ج۲ ص۴۸۴، ط، س، ج۳ ص۱۳۴. ظفير

(۴) الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب المهر ج۲ ص۴۵۴. ظفير

ددوه کالو څخه په زيات کي بچي پيدا سو نو نسب دده دخاوند څخه نه ثابتيږي او دده واري به نه وي: كما في الدرالمختار وان ولدت لاكثر منهما من وقته (اى الموت شامى) لا يثبت بدائع ولو لهما فكالاكثر بحر. (۱)

دخاوند دوفات څخه دوه کاله وروسته چه کم بچي وسو نو هغه صحيح النسب نه دي: سوال: (۱۱۸۹) په بهشتي زيور ځلورمه حصه کي يی دا مسئله ليکلي ده که چيري دچا دښځي خاوند مړ سي او دوه کاله وروسته ددي بچي پيدا سو نوهغه به دخاوند مرحوم څخه ثابتيږي، دويمه دا چه که چيري ځلور مياشتي لس ورځي دعدت تيري سي او نکاح وسوه يو کال نهه مياشتي وروسته بچي پيدا سو نوبچي به دمخکي خاوند څخه ثابتيږي اوکه نه ددويم خاوند څخه؟

جواب: په درمختارکي دي: ويثبت نسب ولد معتدة الموت لاقل منها من وقته اى الموت الخ ولو اقرت بمضيها بعد اربعة اشهر وعشر فولدته لستة اشهر لم يثبت الخ (۲) ددي مجموعه عبارت څخه معلومه سوه چه دکمي ښځي خاوند مړ سي نوکه چيري ددوو کالوڅخه مخکي ددي بچي پيدا سو او دي ښځي ځلور مياشتي لس ورځي وروسته دعدت ختميدلو اقرار نه وي کړي نو ددي دبچي نسب به دخاوند متوفي څخه ثابت وي اوکه چيري دي ښځي لس ورځي ځلور مياشتي وروسته دعدت تيريدلو اقرار وکی او دويمه نکاح يی وکړه او بيا په شپږو مياشتوکي يا ددې څخه په زياته موده کي بچي پيدا سو نو ددي نسب به ددويم خاوند څخه ثابت وي. فقط

اوه مياشتي وروسته چه کم بچي وسو نو هغه صحيح النسب دي: سوال: (۱۱۹۰) مسمات هندي دځلور کاله کونډوالي څخه وروسته دبکر سره نکاح وکړه او دنکاح څخه اوه مياشتي وروسته دمسمات هندي هلك پيدا سو، نو په دي صورت کي نکاح صحيح سوه اوکه نه او هغه بچي دچا دي؟

جواب: دهندي نکاح دبکر سره صحيح سوه او هغه بچي هم شرعا دبکر دي او ددي نسب دبکر څخه ثابت دی. (۳)

کله چه ښځه دواده دعوه کوي او داولاد هم نو هغه صحيح النسب دي: سوال: (۱/ ۱۱۹۱)

---

(۱) الدرالمختار على هامش ردالمحتار باب ثبوت النسب ج۲ ص۸۲۱، ط، س، ج۳ ص۵۴۴. ظفير

(۲) الدر المختار على هامش رد المحتار باب ثبوت النسب ج۲ ص۸۲۵، ط، س، ج۳ ص۵۴۳. ظفير

(۳) واذا تزوج الرجل امرأة فجاءت بولد لاقل من ستة اشهر منذ يوم تزوجها لم يثبت نسبه الخ وان جاءت به لستة اشهر فصاعداً يثبت نسبه منه اعترف به الزوج او سكت لان الفراش قائم والمدة تامة (هدايه باب ثبوت النسب ج۲ ص۴۱۱). ظفير

مدعا علیه چي دمدعی نیکه دي دمدعی دثبوت دنسب څخه ده ته انکار دي یعني دا وایی چه زما زوي نکاح دده دمورسره نه ده کړي بلکه ددباندي څخه یی دا راوړي وو، او دراوړلو څخه شپږ میاشتی وروسته ددي دا اولاد سوی وو، ماته علم نسته که چیري پټه نکاح ده کړی وي څوك گواه نسته ولي چه دډیرو ورځو واقعه ده او دمدعی دمور دا اقرار دي چه زما زوي دي او دده دپلار سره زما نکاح سوی وه نو په دی صورت کي دده نسب به دده دخپل پلار څخه ثابت وي اوکه نه؟

<u>**دمهر حکم**</u>: **سوال**: (۲/ ۱۱۹۱) په مذکوره بالا صورت کي دمهر متعلق دښځي قول به منل کیږي اوکه نه؟

<u>**دغیر شرعي گواهانو گواهي**</u>: **سوال**: (۳/ ۱۱۹۱) دنکاح یا دطلاقو چه شرعي گواهان نه وي نو دغیر شرعي گواهانو گواهي به منل کیږي اوکه نه؟

جواب: (۱) نکاح به صحیح منل کیږي او نسب به ثابت وي دنیکه قول او دعوي به معتبر نه وي. ([1])

جواب: (۲) دمهر په باره کي که مدعي گواهان معتبر پیش کړي نو هغه مقدار به معتبر وي، کنې چه دچا دقول څخه مهر مثل ثابت وي هغه به معتبر وي (یعني په گواهانو دشهادت کي). فقط

جواب: (۳) دغیر عادلو گواهانو په گواهي سره نکاح او طلاق نه ثابتیږي مگر چه کم صورت دنمبر اول دسوال دی په دي کي دعوه دښځي دنکاح او ثبوت دنسب متعلق بلا شهادت معتبره ده او دنیکه قول په گواهي سره هم په باره دنفي دنسب اودنفي دنکاح کي مسموع نه دي: قال فی رد المحتار لا تسمع بینته ولا بینة ورثته علی تاریخ نکاحها بما یطابق قوله لانها شهادة علی النفی معنًی فلا تقبل والنسب یحتال لاثباته مهما امکن والامکان ههنا یسبق التزوج بها سرًا بمهر یسیر الخ ([2]) ص۲۲۷ جلد ثاني شامي باب ثبوت النسب. فقط

<u>**چه ددوو گواهانو په موجودگي کي نکاح سویده نو اولاد به صحیح النسب وي**</u>: **سوال**: (۱۱۹۲) مسماة زبیده چه پر چا باندي ناگهانه زمانه دغربت راغلی وه بکر ورته وویل

([1]) ولو ولدت فاختلفا فی المدة فقالت المرأة نکحتنی منذ نصف حرل وادعی الاقل فالقول لها بلا یمین وقالا تحلف وبه یفتی کما سیجیئ فی الدعوی (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب ثبوت النسب ج۲ ص۸۲۳، ط، س، ج۳ ص۵۴۷) قال لغلام هو ابنی ومات المقر فقالت امه المعروفة بحریته الاصل والاسلام انا امرأته وهو ابنه یرثانه استحسانا (ایضا ج۲ ص۸۲۵ ط، س، ج۳ ص۵۴۹). ظفیر

([2]) ردالمحتار باب ثبوت النسب ج۲ ص۸۲۴، ط، س، ج۳ ص۵۴۷. ظفیر

چه زما سره نكاح وكړه خو په خفيه سره ددي پيغام اطلاع صرف دزبيدي خورته وسوه مسماة زبيده تياره سوه، دا دواړه خويندي يې يو بل كورته په څه بهاني سره بوتللي او هلته يې دوى ښكاره كړه چه قاضي او وكيل موجود دي ايجاب او قبول او معرفت دوكلاء وسو، دا دواړه خويندي نه قاضي پيژني او نه وكلاء، بكر دمسماة زبيدي سره دمسماة په مكان كي په خفيه طريقي سره كله كله يوځاى كيدى چه دهغي په نتيجه كي زبيده حامله سوه او دهلك تولد وسو، اوس سوال دا دي چه آيا دا نكاح جائزه ګڼل كيږي اوكه نه؟ او آيا دا هلك حلال ګڼل كيږي؟ او شرعًا دزبيدي او دهلك څه حق دي اوكه نه؟ كه چيري بكر انكار وكړي نو څه حكم دي؟

جواب: كه چيري مذكوري ښځي نكاح لوستونكي ته اجازت دنكاح لوستلو په ذريعه دوكيل وغيره سره وركړي وي او دايجاب او دقبول دوه سړي اوريدونكي مسلمانان موجود وه او نكاح وتړل سوه [1] نو دغه هلك دبكر دي او ددي نسب دبكر څخه ثابت دي او هغه هلك به دبكر وارث وي او دبكر انكار به شرعا معتبر نه وي كله چه دوه ګواهان دنكاح موجود وي. [2]

دمحارمو سره نكاح باطله ده او ددوى داولاد نسب به ثابت نه وي: **سوال**: (۱۱۹۳) هندي ته يوجاهل پير فتوي وركړه دهندي خاوند جاهل او لا علم وو، زوجه مدخوله ته يې طلاق وركړى او ددي دلور سره چه دبل خاوند څخه وه نكاح وكړه او صحبت يې وكړى دي ته حمل وسو، كله چه دعلاقي قاضي ته خبر وركول سو نو په مينځ دلور او پلار كي يې تفريق وكړى او هندي توبه وكړه، اوس قاضي ترجيح عدم دثبوت النسب ته وركوي، نو په دي باره كي شرعًا څه حكم دي؟

جواب: چونكه نكاح دمحارمو سره نكاح باطله ده ددي وجه مقتضاء ددي دا ده چه نسب ددي به ثابت نه وي: كما صرح به فى الشامى ولذا لا يثبت النسب فى نكاح المحارم الخ. [3] فقط

يونيم كال وروسته چه كم بچي وسو نو ددي نسب به دپلار څخه وي: **سوال**: (۱۱۹۴) يوه ښځه دخپل خاوند څخه حامله وه چه خاوندوفات سو يونيم كال وروسته يې انجلۍ پيدا سوه نو دا انجلۍ به دچا طرف ته منسوبيږي؟

---

[1] وينعقد بايجاب من احدهما وقبول من الاخر الخ كزوجت نفسى او بنتى او موكلتى منك ويقول الاخر تزوجت الخ وشرط حضور شاهدين حرين مكلفين سامعين الخ (الدرالمختار على هامش ردالمحتار كتاب النكاح ج۲ ص۳۲۱ ط، س ج۳، ص۹). ظفير

[2] ويثبت النسب احتياطا بلا دعوة وتعتبر مدته من الوطى الخ وقالا ابتداء المدة من وقت العقد (الدر المختار على هامش رد المحتار باب المهر ج۲ ص۴۸۴، ط، س، ج۳ ص۱۳۴). ظفير

[3] رد المحتار باب المهر ج۲ ص۴۸۲، ط، س، ج۳ ص۱۳۲. ظفير

جواب: دخاوند دوفات څخه وروسته په يو نيم كال كي چه كمه انجلۍ پيدا سوه هغه دخاوند طرف ته منسوب ده او نسب ددي دخاوند متوفي څخه ثابت دي ځكه چه اكثره موده دحمل دوه كاله ده. (۱)

ددوو كالو څخه وروسته خاوند ښځي ته راغي او بچي پنځه مياشتي وروسته وسو نو دده نسب دچا څخه دي: **سوال**: (۱۱۹۵) زيد دسفر څخه دوه كاله وروسته په ۱۷ دجمادي الاولي سنه ۱۳۴۰ هجري خپل ځاى ته راورسيدى اوپه ۲۵ دشوال سنه ۱۳۴۰ هجري كي تقريبًا په پنځه مياشتي نهه ورځوكي دده دښځي روغ رمټ ژوندي بچي پيدا سو نو په دي صورت كي بچي صحيح النسب دي اوكه نه؟ او موده دحمل كم ازكم څومره قدر ده؟

جواب: بچي صحيح النسب دي او دزيد دي دده طرف ته به منسوب وي او موده دحمل كم ازكم شپږ مياشتي دي يعني دوخت دنكاح څخه كه چيري زيد په سفر كي وو دده دښځي بچي پيدا سو نو هغه به دزيد شماريږي او نسب دده دزيد څخه ثابت دي لقوله عليه الصلوة والسلام: الولد للفراش وللعاهر الحجر (۲). فقط

دشپږو ودونو والا داولاد نسب: **سوال**: (۱۱۹۲) يو سړي شپږ ودونه وكړل ددي ټولو څخه اولاد ژوندي موجود دي دده دمرګ څخه وروسته دده تركه او جائيداد چه ده پريښودل نو دا به په ټولو اولادونو باندي تقسيميږي اوكه نه اولنيو څلورو ببيانو ته او ددوي اولاد ته تقسيميږي او نوري دوې بيبياني او اولاد به محروم كيږي؟

جواب: په نكاح فاسد كي هم نسب داولاد دخاوند څخه ثابتيږي نو هغه ټول اولاد به ثابت النسب وي كذا في الشامي (۳). فقط

دبل چا ښځه يې بوتله او ددې څخه يې بچي وسو ددې نسب: **سوال**: (۱۱۹۷) يو سړي دخپل خوريى دښځي سره تعلق پيدا كړى او بويى تلله او وتښتيدى او ترلسو كالو پوري ګرځيدى چه دري بچي يى هم وسوه او هغه وايى چه ما نكاح كړي وه حالانكه دده خوريى ژوندى دي او طلاق يى هم نه دي وركړى نو هغه نكاح جائز ده اوكه نه؟ او اولاد به دحرامو وي اوكه نه؟ او په خاندان كي ددي نكاح كيږي اوكه نه؟

جواب: كله چه ددي خاوند طلاق نه دي وركړى نو هغه ښځه دده په نكـــــاح كي ده او كم

---

(۱) واكثر مدة الحمل سنتان لخبر عائشة (الدر المختار على هامش رد المحتار باب ثبوت النسب ج۲ ص۸۵۷، ط، س، ج۳ ص۵۴). ظفير

(۲) مشكوة باب اللعان فصل اول ص۲۸۷. ظفير

(۳) وتقدم فى باب المهر ان الدخول فى النكاح الفاسد موجب للعدة وثبوت النسب (رد المحتار باب العدة ج۲ ص۸۳۵، ط، س، ج۳ ص۵۱۲). ظفير

سړي چه دا ښځه بیولي وه او هغه دنکاح کولو مدعي دي دده نکاح ونه سوه ([1]) او په حکم ددي چه: الولد للفراش، چه کم اولاد وسو نو هغه داول خاوند یعني خوریي ځخه شمارل کیږي او نسب داولاد به ددي خوریي ځخه ثابت وي او په خاندان کي ددوی (اولادونو) نکاح کیدي سي. فقط

دهندوي ښځي ځخه چه اولاد وسو نو ددي نسب: **سوال**: (۱۱۹۸) زید یو مشهور سړي وو چه دده ناجائز تعلق دیوي هندوي ښځي سره مشهور وو، چه دهغي ځخه یې اولاد هم وسو لیکن زید په خپل ژوند کي ځه تردید ونه کړی، نو که اوس چیري دده اولاد دمسلمان او منکوحه والي دثبوت دنکاح دپاره یوه نکاح نامه وړاندي کړي نو معتبره به وي اوکه نه؟ او هغه ښځه او ددي اولاد ددي خلګو په کفوکي به وي اوکه نه؟ یعني چه دچا مور او دپلار ددواړو طرف ځخه مسلمان وي دهغو کفو به وي اوکه نه؟

جواب: داسلام او دنکاح ددي ښځي او ددي داولاد صحیح النسب کیدل به مسلم وي په شامي باب ثبوت النسب کي ددي تصریح ده او چونکه په نسب کي اعتبار دپلار دي نو ددې وجه دده اولاد کفو دي ددي خلګو چه قدیم الاسلام دي. ([2])

که چیري دچا دښځي ناجائز تعلق دبل سړي سره وي نو اولاد به دچا وي؟ **سوال**: (۱۱۹۹) یو سړي دخپلي مشري ورینداري سره ناجائز تعلق جوړ کړی چه ددې ځخه دوې انجوني پیدا سوی نو دا انجوني به دخاوند وي اوکه نه دزاني یعني دناجائز تعلق ساتلو والا؟ او نفقه ددې انجونو به دناجائز تعلق والا پرذمه وي او که نه؟ او حالانکه سړي او ښځه یعني زاني او زانیه دواړه ددي امر اقرار کوي چه دا انجوني دناجائز تعلق ځخه پیدا سویدي ؟

جواب: په دي صورت کي په حکم دالولد للفر اش هغه دواړه انجوني دښځي او د خاوند دي او نسب ددوي دده ځخه ثابت دي کم سړي سره چه ناجائز تعلق ساتی دهغه طرف ته نه منسوب کیږي. ([3])

په اتو میاشتوکي چه کم بچي پیدا سو نو هغه صحیح النسب دی: **سوال**: (۱۲۰۰) دهندي خاوند وفات سو، نو یونیم کال وروسته دزید سره دهنده نکاح په دې شان ولوستل سوه چه په یوځاي کي دوه سړیان مسلمانان عاقلان بالغان یی را وبلل، چه هنده او زید هم په

([1]) اما نکاح منکوحة الغیر الخ فلم یقل احد بجوازه فلم ینعقد اصلا (ردالمحتار باب العدة ج۲ ص۸۳۵). ظفیر
([2]) عن النبی ﷺ قال الولد لصاحب الفراش (بخاری باب الولد للفراش ج۲ ص۹۹۹). ظفیر
([3]) واقلها ستة شهر اجماعًا (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب ثبوت النسب ج۲ ص۷۵۷، ط، س، ج۳ ص۵۴۰). ظفیر

دې ځاي کې موجود وه، يو بل پنځم سړي هم موجود وو چا چه مخاخ ددي دوو دهندي او دزيد ايجاب او قبول وکی اوعقد يی وکی، دعقد نکاح په وخت دحمل او عدم حمل څه تعرض او اظهار يی ونه کړی تر دي پوري چه دنکاح څخه اته مياشتي وروسته دهلك تولد وسو آيا نکاح مذکوره شرعًا صحيح او منعقده سوه او که نه؟ هغه هلك صحيح النسب دي او که نه؟ او چه کم سړي دي هلك ته بي تحقيقه حرامي وايی هغه دکمي سزا مستحق دي شرعًا ؟

جواب: په دي صورت کي نکاح منعقده سوه او په نکاح کي څه خرابي او خلل رانغي او چه دکم هلك دنکاح څخه اته مياشتي وروسته تولد وسو نو دده نسب دزيد څخه ثابتيږي لکه څنګه چه فقهاء تصريح فرمايی چه اقل موده دحمل شپږ مياشتي دي وروسته دنکاح څخه په شپږ مياشتي يا زياتوکي چه کم اولاد وي دده نسب به دناکح څخه ثابت وي وفي الحديث الولد للفراش وللعاهر الحجر [1] نوچه کم سړي چه دي ولد ته ولد الحرام ووايی نوهغه سخت فاسق او عاصي دي .

دنکاح څخه مخکي حمل به ثابت النسب نه وي: **سوال**: (۱۲۰۱) زيد دزبيدي سره زنا وکړه او زبيدې ته حمل وسو، اوس چونکه مسماة ته داوو مياشتو حمل دزيد څخه دي لهذا زيد في الحال دزبيدې سره نکاح کړيده نو دزيد څخه ددي اولاد نسب به ثابت وي اوکه نه؟

جواب: په حديث شريف کي: الولد للفراش وللعاهر الحجر [2] نوچه کم حمل دنکاح څخه مخکي دي، ددي نسب دزيد څخه ثابت دي. فقط

دخاوند څخه هلک پيدا سو او بيا حمل پاته سو مګر خاوند منکر دی: **سوال**: (۱۲۰۲) يو سړي په لوي عمر کي دځواني ښځي سره نکاح وکړه چه ددي ښځي څخه يی يو هلك پيدا سو دوه کاله وروسته دشل او ذيابيطس په مرض کي سخت مبتلا سو او دده ښځه داوو مياشتو څخه حامله ده او وي ويل چه دا حمل زما څخه نه دي اوددي دوه کلنی بچي هم زما څخه نه دي بلکه دزنا څخه دي او طلاق يې ورکی او جلا سول دبچي دپيدائش څخه وروسته ددي ناروغ انتقال وسو لهذا دا ښځه او دواړه بچي دده دترکي مستحق دي اوکه نه؟

جواب: که چيري دطلاق دوخت څخه ددوو کالو څخه په کم وخت کي چه بچي پيدا سو نو نسب ددي بچي به ددي خاوند مطلق څخه شرعًا ثابت وي کما في الدرالمختار کما

---

(۱) مشکوة باب اللعان (فصل اول ص۲۸۷). ظفير

(۲) مشکوة باب اللعان فصل اول ص۲۸۷. ظفير

يثبت بلا دعوة احتياطا فی مبتوتة جاءت به لاقل منهما (ای من سنتين) من وقت الطلاق الخ (١) نوبه صورت مسئوله کي دواړه بچيان به وارث دمتوفي دترکي وي او نسب ددي به دمتوفي څخه ثابت وي او ښځه مذکوره به وارث ددي متوفي څخه وي، ځکه چه دوضع دحمل څخه عده ددي ښځي ختم سوه او وروسته دعدت څخه ددي سرې انتقال وسو نو چونکه په وخت دمرګ دسړي مذکور سره څه علاقه دنکاح باقي نه وه پاته سوی لهذا هغه ښځه به وارث ددي سړي نه وي او امرأة الفار بالطلاق، ښځه مطلقه هغه وخت وارثه کيږي چه ددي دعدت دختميدو څخه مخکي ددي سړي انتقال وسي كذا في الدر المختار.

دهمبستری څخه شپږ مياشتي وروسته چه کم بچي وسو نو هغه ته به صحيح النسب ويل کيږي: **سوال**: (۱۲۰۳) دزيد دښځي دهمبستری څخه اته مياشتي او دوه ويشت ورځي وروسته لور پيدا سوه ددي ښځي ټولي څلور لوڼي دي چه دټولو څخه مشره لور يې په نهه مياشتي او لسو ورځوکي، او ددې څخه وروسته دوهمه لور يې په نهه مياشتو دولس ورځو کي، او ددې څخه وروسته دوهمه لور يې په نهه مياشتو دوو ورځو کي پيدا سويدي نو ددي انجونو نسب دزيد څخه ثابت دي اوکه نه؟ دټولو څخه دمخکي لور څه حکم دی کله چه دقرائنو مشتبهو څخه يقين وي چه دا دخپل پلار دنطفي څخه نه ده؟

جواب: ددي ټولو لوڼو نسب دزيد څخه ثابت دي او ټولي لوڼي شرعًا دزيد دي او شك او شبهه کول په دغوکي صحيح نه دي دشپږو مياشتو دنکاح څخه وروسته چه کم هلك پيدا سو نو هغه صحيح النسب دي او دخاوند څخه به ګڼل کيږي اوپه نکاح کي يې څه فرق نه راځي، دنهه مياشتو څخه په څه زيات کي چي بچي پيدا کيږي نو صحيح دي کنې اکثره دنهمي مياشتي دشروع کيدلو څخه وروسته ولادت کيږي په ديکي وهم او شك کول نه دي په کار. (٢)

دنکاح څخه مخکي چه کم بچي دزنا څخه پيدا سو نو دده نسب به وروسته دنکاح څخه دزاني څخه نه وي: **سوال**: (۱۲۰۴) زيد دخپلي موجوده ښځي سره وړاندي دنکاح څخه زنا وکړه او ددي څخه هلك پيدا سو اوس ددي سره يې نکاح وکړه، نو اوس ددي هلك نسب به دزيد څخه ثابت وي اوکه نه؟ او دزيد دترکې به وارث وي او که نه؟ اودنکاح څخه وروسته ددي موجوده ښځي دنان او نفقې ذمه دار به زيد وي اوکه نه؟

(١) الدر المختار على هامش ردالمحتار باب ثبوت النسب ج۲ ص۸۵۸، ط، س، ج۳ ص۵۴۱. ظفير

(٢) واقلها ستة اشهر اجماعًا (الدر المختار على هامش ردالمحتار باب ثبوت النسب ج۲ ص۸۵۷، ط، س، ج۳ ص۵۴۰). ظفير

جواب: کم زامن چه دبي نكاحي ښځي څخه مخکي دنکاح څخه پيدا سويدي نو ددي نسب ددي سړي څخه نه دي او هغه دده وارث نه دي ليکن كه چيري ده ته څه هبه کول غواړي نو کولي يې سي، يا كه چيري وصيت دده دپاره وكړي نو تريوه ثلث پوري صحيح كيدي سي او چه كله ددي موجوده ښځي سره نكاح وسوه نوهغه دنورو ښځو په مثل مستحقه دنفقي وغيره او مستحقه دوراثت سوه. فقط

خاوند دډيري مودي څخه په بهر وطن کي وو نو دښځي دبچي نسب به دده څخه ثابت وي:

سوال: (**١٢٠٥**) زيد دخپل کور څخه يوبل وطن ته ولاړی دډيري مودي څخه وروسته دده دښځي بچي پيدا سو نو آيا دا پچي به حلالي گڼل كيږي اوكه حرامي؟

٢: دزيد نكاح وسوه خو رخصتي ونه سوه نو ده ته به حلالي وايي اوكه نه حرامي؟ دا دواړي مسئلي دبهشتي زيور دي ددې څه دليل دي؟

جواب: دبهشتي زيور ددواړو مسئلو دليل دا حد يث مبارك دي چه: الولد للفراش وللعاهر الحجر، او دخاوند څخه دنسب دثابتيدلو دپاره دا ضروري ده چه وروسته دنكاح څخه دشپږو مياشتو څخه په كمه موده کي بچي پيدا نه وي بلکه كه چيري دشپږو مياشتو څخه په كمه موده کي بچي وي نو دده نسب به دخاوند څخه نه وي ځکه چه كمه موده دحمل شپږ مياشتی ده البته دنكاح څخه پوره په شپږو مياشتوکي يا ددې څخه په زياته موده کي كه بچي پيدا وي نو دده نسب به دخاوند څخه ثابت وي (١) او ددي دليل مذکور حديث دي او فقهاء احنافو ددي تصريح په سنتان سره كړي ده، چه په ټولو كتابونو دفقه کي لکه در مختار، هدايه، شامي او نورو کي دا مسئله مذكوره ده، اوبدعتي كه چيري اعتراض وكړي نوهغه به پرتماموفقهاؤ باندي اعتراض وي. فقط واللہ اعلم

دطلاقو څخه دوه نيم كاله وروسته دپيدا سوي بچي نسب دطلاق وركوونكي څخه نه ثابتيږي:

سوال: (١٢٠٦) ما ديوي ښځي سره نكاح كړي وه يو كال وروسته مي ديته طلاق وركړی نو دوه نيم كاله تير سوه مذکوره ښځه چا پوهه كړه چه ته پر مظهر باندي ددي حمل تهمت ولگوه چنانچه دعدالت دبيري څخه مظهر دا پر ذمه واخيستی مظهر آزاد سو مگر دالله تعالي په نوم قسم خوري چه مظهر دا زنا نه ده كړي اونه مظهر ته ددي علم دي نوپه دي صورت کي دشريعت مطهره حكم څه دي؟

---

(١) ان الفراش على اربع مراتب وقد اكتفوا بقيام الفراش بلا دخول كزوج المغربى بمشرقية بينهما سنة فولدت لستة اشهر مذ تزوجها لتصوره كرامة او استخداما (درمختار) ضعيف وفراش لامة الخ ومتوسط وهو فراش ام الولد الخ وقوى وهو فراش المنكوحة ومعتدة الرجعى فان فيه لاينتفى الا باللغعان واقوى كفراش معتدة البائن (ردالمحتار باب ثبوت النسب ج٢ ص٨٢٧، ط، س، ج٣ ص٥٥٠). ظفير

جواب: که چیري سائل واقعي زنانه ده کړي نو هغه عند الله بری دي اوکله چه دطلاقو دوه نیم کاله تیر سویدي او ددې ځخه وروسته حمل ظاهر سو نوهغه دخاوند مُطَلِّق ځخه شرعًا نه دي بلکه هغه حمل دزنا ځخه دي (۱) البته که مظهر دي ته دري طلاقه نه وي ورکړي نو ددي سره دوباره نکاح کولي سي.

ماشومه به دخاوند ځخه وي او دزاني ځخه نسب نه ثابتیږي: **سوال**: (۱۲۰۷) زید دیوي ښځي سره نکاح وکړه په دي دوران کي دبکر ددي ښځي سره ناجائز تعلق سو دښځي لور پیداسوه وروسته ددغه ځخه زید ښځي ته طلاق ورکړی، دانجلۍ شکل او شباهت بالکل دزید سره مشابه دي بکر قریشي دي او زید او ښځه یې ارائین دي نو انجلۍ به دکم قوم وي؟ او ولد الحرام به وي اوکه نه؟

جواب: زید چه دکم قوم ځخه دي نو انجلۍ به هم ددغه قوم ځخه بلل کیږي ځکه چه تر دي وخته پوري مذکوره ښځه دزید په نکاح کي وه (۲) لهذا په حکم د: الولد للفراش وللعاهر الحجر" باندي به هغه انجلۍ دزید طرف ته منسوبه وي او دبکر طرف ته به منسوبه نه وي او نسب یې دزید ځخه ثابت دي او ولد الحرام به نه بلل کیږي په هر حال دخاندان دقریشو هللث که چیري ددي انجلۍ سره په نکاح راضي وي او هغه انجلۍ هم خوشحاله ده نو نکاح یې په خپل مینځ کي صحیح ده. فقط

چه کمي زنانه بغیر دطلاق ځخه دویم واده وکی نو هغه به مخکي خاوند ته ورکول کیږي او ددویم خاوند اولاد دویم خاوند ته: **سوال**: (۱۲۰۸) زید خپله منکوحه زینب او لور فاطمه شیرخواره پریښودل او یوځای ولاړی زینب چونکه بدچلنه وه هغی دیو سوي سره نکاح وکړه چه زه خاوند پرې ایښي یم ددویم خاوند ځخه اولاد هم وسو اوس دیارلس کاله وروسته اول خاوند واپس راغي نو زوجه به ده ته ورکول کیږي اوکه نه؟ او چه کم اولاد دزوج ثاني ځخه سوی دي هغه به چاته ورکول کیږي او فاطمه چه دزید ځخه ده او اوس ددیارلسو کالو ده دي ته دتیرو سوو کلونو نفقه ورکړي اوکه نه؟ او دا بیولی سي اوکه نه؟ او دویمه نکاح چه زینب کړي وه هغه صحیح ده که فاسده یا بل ځه؟

جواب: هغه اولاد چه ددویم خاوند ځخه وسو هغه ددویم خاوند دي او زوجه داول خاوند

---

(۱) کما یثبت بلا دعوة احتیاطا فی مبتوتة جاءت به لاقل منهما من وقت الطلاق لجواز وجود وقته الخ ولو لتمامهما لا یئت النسب (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب ثبوت النسب ج۲ ص۸۵۸، ط، س، ج۳ ص۵۴۱). ظ

(۲) اذا تزوج الرجل امرأة فجاءت بولد لاقل من ستة اشهر مذ یوم تزوجها لم یثبت نسبه الخ وان جاءت به لستة اشهر فساعدا یثبت نسبه منه اعترف به الزوج او سکت لان الفراش قائم والمدة تامة (هدایه باب ثبوت النسب ج۲ ص۴۱۱). ظفیر

ده، (۱) ده ته به ورکول کیږي او زید خپله لور فاطمه دبالغ کیدو څخه وروسته اخستي سي او تربالغه کیدو پوری به دخپلی مورسره اوسیږي په دي شرط چه ددي مور دزید کور ته راسي کنه وي نوزید في الحال خپله لور فاطمه اخستي سي او دتیری سوی زماني نفقه دده پر ذمه واجب نه ده بخلاف نفقة القريب فانها لا تصير دينًا و لو بعد القضاء والرضاء الخ شامی (۲) ج۲ ص۲۵۸). فقط

دواده څخه شپږ میاشتي وروسته چه کم حمل ظاهر سي هغه به دخاوند په طرف منسوب کیږي: **سوال**: (۱۲۰۹) دیو مسلمان ښځي دیو کافر سره بدتعلقي وکړه او بیا یې توبه وایسته مسلمانه سوه دیو بل مسلمان سره یې نکاح وکړه شپږ میاشتي وروسته ددي خاوند ته دحمل دعلم کیدو څخه وروسته هغه انکار کوي چه دا حمل زما دطرف څخه نه دي بلکه ددغه کافر دطرف څخه دي په دي بنا باندي هغه دغه زنانه پريښودل غواړي آیا دحمل انکار به صحیح وي اوکه نه؟

جواب: په دي صورت کي دخاوند انکار کول دحمل څخه صحیح نه دي دغه حمل به ددغه مسلمان خاوند ګڼل کیږي ځکه چه کمه موده دحمل په شریعت کي شپږ میاشتي ده (۳). (درمختار). فقط

دغیر مطلقه سره دواده څخه وروسته چه کم اولاد وسي هغه به جائز وارث نه وي: **سوال**: (۱۲۱۰) زید په ناجائزه طریقه سره دعمر منکوحه په خپل کور کي وساتله او ترڅه وخته پوري عمر ته یې وویل چه ته روپۍ واخله او طلاق ورکړه عمر انکار کوی، ددې څخه وروسته زید دا دعوه وکړه چه عمر خپلي منکوحه ته طلاق ورکړي دي او دیو مولوي په مخکي یې ددي امر ګواه پیش کړی چه زموږ مخامخ یې دخپلي بي بي په حق کي حسب ذیل الفاظ وویل: چي دا زما بي بي نه ده دا زما دکاله څخه نه ده زه دا آبادول نه غواړم ددي سره زما هیڅ تعلق باقي نه دي چه کم ځاي ته غواړي ولاړه دي سي زما دطرف څخه دیته اختیار دي، دغه مذکور مولوي دطلاق واقع کیدو حکم ورکړی او دښځي نکاح یې دزید سره وکړه او ددغه نکاح څخه اولاد وسو او زید مړ سو ددغه مذکور مولوي په دغه

---

(۱) غاب عن امرأته فتزوجت بآخر وولدت اولادا ثم جاء الزوج الاول فالاولاد للثانی (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب ثبوت النسب ج۲ ص۸۲۸. ط. س. ج۳ ص۵۵۲). ظفیر

(۲) وګوري: ردالمحتار للشامی باب النفقه ج۲ ص۹۵۲. ط، س. ج۳ ص۵۹۴. ظفیر

(۳) اذا تزوج الرجل امرأته فجاءت بولد لاقل من ستة اشهر منذ يوم تزوجها لم يثبت نسبه الخ وان جاءت به لستة اشهر فصاعدا يثبت نسبه منه اعترف الزوج او سكت لان الفراش قائم والمدة تامة (هدايه باب ثبوت النسب ج۲ ص۴۱۱). ظفیر

مذکوره شهادت باندي دطلاق حکم ورکول قضاء ده که افتاء؟ دا الفاظ دکنایه طلاق دي که نه؟ او په اول صورت سره دنیت کیدل دطلاق دواقع کیدو دپاره شرط دي که نه؟ په اول تقدیر سره دعمر دغیر حاضرۍ څخه بغیر دنیت پته به څه رنګه لګیږي که چیري دزید دویمه نکاح نه وي سوی نو دابنځه ددي او اولاد دزید دمال وارثان به وي اوکه نه؟

جواب: که چیري دعمر دخپلی بي بي په نسبت دمذکوره الفاظو ویل هم ثابت سي نو په دی الفاظوسره بغیر دنیت دطلاقونو طلاق نه واقع کیږي او دنیت حال دخاوند څخه معلومیږي [1] لهذا مولوي صاحب چه کم حکم دطلاق دواقع کیدو مطلقا کړی دی دا فتوي صحیح نه ده او چه کله طلاق واقع نه سو نو دعمر دبي بي دویمه نکاح دزید سره صحیح نه سوه. [2]

۲. دا الفاظ دکنایي طلاق دي او دطلاق دواقع کیدو دپاره دطلاق په نیت سره ویل شرط دي او دنیت حالت دخاوند څخه معلومیږي.

۳. چه کله نکاح صحیح نه سوه نو دغه مذکوره ښځه دزید زوجه نه سوه او ددې څخه چه کم اولاد وسو هغه هم ثابت النسب نه دي لهذا مذکور به هم دزید دمیراث او جائیداد وارث نه وي. فقط

یو خاوند پریږدي او دبل سړي سره اوسیدل شروع کړي اوس خاوند ته دراتلو دپاره به څه کوي؟ **سوال**: (۱۲۱۱) یوې منکوحه زنانه خپل خاوند پریښودی دبل نامحرم سړي سره وتښتیده اوپه زنا کي مبتلا سوه او دغه سړي څخه یې اولاد هم وسو اوس دغه ښځه توبه وکړي او خپل اول خاوند ته راتلل غواړي نو دنکاح دتجدید ضرورت سته که نه؟ او هغه اولاد چه دبل سړي نه پیدا سو هغه دچا دي؟

جواب: که چیري اول خاوند طلاق نه وو ورکړي نو دغه ښځه داول خاوند ده نکاح ددي باقي ده دتجدید نکاح ضرورت نسته او اولاد چه کم داول خاوند څخه دجدا اوسیدو په وخت کي وسو هغه ټول به داول خاوند طرف ته منسوب کیږي: لقوله علیه السلام الولد للفراش وللعاهر الحجر [3] وقد اکتفو بقیام فراش بلا دخول کتزوج المغربی بمشرقیة الخ درمختار [4]. فقط

---

(۱) فالکنایات لا تطلق بها الابنیة او دلالة الحال الخ کنحو اخرجي واذهبی (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب الکنایات ج۲ ص۲۳۵ ط. س. ج۳ ص۲۹۷ - ۲۹۸). ظفیر

(۲) اما نکاح منکوحة الغیر ومعتدته فلم یقل احد بجوازه فلم ینعقد اصلا (ردالمحتار باب المحرمات ج۲ ص۴۸۲، ط. س. ج۳ ص۵۱۲). ظفیر

(۳) ترمذی باب ماجاء ان الولد للفراش ص۸۲. ظفیر

(۴) ولذا لو صرح بانه من الزنا لا یثبت قضاء ایضا (ردالمحتار باب المحرمات ج۲ ص۴۰۱. ط. س. ج۳ ص۴۹).

دزنا داولاد نسب به دزناکار څخه وي که نه؟ **سوال**: (۱۲۱۲) دبې نکاح ښځي څخه دزناکاري چه کم اولاد وسو دهغه نسب دزناکار يعني دزيد څخه به ثابت وي که نه؟

جواب: دغه اولاد ولد الحر ام دي دزيد څخه به دده نسب ثابت نه وي قال عليه الصلوة والسلام الولد للفراش وللعاهر الحجر دبې نکاح ښځي څخه چي کم اولاد وسي هغه دزناکار څخه ثابت النسب نه دی. (۱)

په زنا سره دحامله سوي ښځي سره زيد نکاح وکړه څه ورځي وروسته ددې بچي پيدا سو دهغه نسب: **سوال**: (۱۲۱۳) زيد دهندي سره نکاح وکړه او دنکاح په وخت هنده په زنا سره حامله سوی وه دنکاح څخه وروسته په يو څو مياشتو کي دهندي هلك پيدا سو نو دا هلك به دزيد وي که نه؟

جواب: که چيري دنکاح څخه وروسته دشپږو مياشتو په کم وخت کي بچی پيدا سوی وي نو دهغه نسب دزيد څخه ثابت نه دي اونه دغه هلك دزيد وارث جوړيدی سي (۲) لقوله عليه السلام: الولد للفراش وللعاهر الحجر (۳). فقط

دنکاح دعلم نه کيدو په وجه يې دغير دمنکوحې سره نکاح وکړه نو اولاد به صحيح النسب وي؟ **سوال**: (۱۲۱۴) زيد دهندي دنکاح دعوه په عدالت کي وکړه ليکن عدالت دغه نکاح ثابته نه کړه پيدا نودعوي يې خارجه کړه بيا زيد اپيل وکی هغه هم نامنظور سو بيا يې نګراني وکړه هغه هم نامنظوره سوه ددغه دري واړو عدالتونو دفيصلی څخه وروسته دهنده وارثانو دهندي نکاح دبکر سره وکړه چه په کمه شپه نکاح کيدونکی وه دهغي څخه يوه ورځ مخکي زيد ناکامه مدعي دخپلو دوو درو دوستانو په مټ سره دهندي او دهغی دخور او دپلار پوزي پريکړې زيد وغيره ته په دغه مقدمه کي سزا ورکول سوه ددغه سزا په اپيل کي زيد عذر پيش کړی چي چونکه زما نکاح دهندي سره وه او دهغی څخه زه محروم کړل سوی يم ددي غيرت په وجه ما دا جرم کړي وو عدالت داپيل ابتدايي کاغذونه وکتل دتحقيقاتو څخه وروسته يې نکاح ثابته کړه اوس هنده

---

(۱) الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب ثبوت النسب ج۲ ص۷۲۷. ط. س. ج۳ ص۵۵۲. ظفير

(۲) فلو لاقل من ستة شهر من وقت النكاح لا يثبت النسب ولا يرث منه الخ ولذا لو صرح بانه من الزنا لا يثبت (اى النسب) قضاء ايضا (ردالمحتار باب المحرمات ج۲ ص۴۰۱. ط. س. ج۳ ص۱۳۲). ظفير

(۳) ولو نكحها الزانى حل له وطيها اتفاقا والولد له ولزمه النفقة (درمختار ج۲ ص۱۸۹. ط. س. ج۳ ص۴۹) قوله والولد له اى ان جاءت بعد النكاح لستة اشهر فلو لاقل من ستة شهر من وقت النكاح لا يثبت النسب ولا يرث منه (ردالمحتار باب المحرمات ج۲، ص۴۰۱. ط. س. ج۳ ص۴۹). ظفير

دبکر په کورکي ددوو دريو بچيانو مورده په دي صورت کي دهنده او دبچيانو په نسبت څه حکم دي؟

جواب: قال فی ردالمحتار اما نكاح منكوحة الغير ومعتدته فالدخول فيه لا يوجب العدة ان علم انها للغير لانه لم يقل احد بجوازه فلم ينعقد اصلا الخ (۱) ج۱ ص۲۵۷ باب العدة، و فی آخر هذا المذهب من الدرالمختار وكذا لا عدة لو تزوج امرأة الغير ووطئها عالمًا بذالك الخ (۲) نوهنده چه دزيد منکوحه ده دبکر سره ددې نکاح باطله ده او ددويم خاوند داولاد نسب ددويم خاوند څخه ثابت نه دي: لانه زنا ولا نسب فی الزنا لقوله عليه السلام الولد للفراش وللعاهر الحجر (۳) دا حکم هلته دي چه بکر ته علم وي چه هنده دزيد منکوحه ده اوکه چيري ده ته علم نه وي او ده دزيد دنکاح دعدم ثبوت پربناء باندي خپله نکاح وکړه او وروسته دزيد نکاح ثابته سوه نو ددې دپاره دا حکم دي چه ښځه به اول خاوند ته ورکول کيږي يعني زيد ته او اولاد دبکر دي په درمختارکي دي: غاب عن امرأته فتزوجت بآخر وولدت اولاد ثم جاء الزوج الاول فالأولاد للثانی علی المذهب الخ وفی ردالمحتار وانما وضع المسئلة فی الولد اذ المرأة ترد الی الاول اجماعًا (۴). فقط

<u>دميري مورسره نکاح باطله ده نو ددي وجي ددي اولاد به صحيح النسب نه وي</u>: سوال: (۱۲۱۵) يو سړي دخپلی ميرې مورسره نکاح وکړه او دخول يې وکړ دهغې څخه يوه انجلۍ پيداسوه دا انجلۍ به دخپل پلار طرفته منسوبه کيږي اوکه به حرامه ګڼل کيږي دپلار وارثه به وي که نه او پرپلار باندي حرامه ده که نه؟

جواب: قال فی الشامی ج۲ ص۲۵۵ باب المهر، ولذا لايثبت النسب ولا العدة فی نكاح المحارم ايضًا كما يعلم مما سيأتی فی الحدود الخ (۵) وفی الحدود عدم ثبوت النسب والعدة الخ (۶) اقول فعلم انه لا نسب ولا عدة. فقط

<u>دمور په ذريعه په شيوخو کي شرف</u>: سوال: (۱۲۱۶) دسيادت شرف چه دفاطمه رضي الله عنها په واسطه په حسنينو کي راغلی دي همدغه دسيادت شرف اوس هم دمور په ذريعه دشيوخو وغيره په اولاد کي راتلی سي که نه؟

جواب: ددغه شرف اثر دمور په ذريعه دشيوخو په اولاد کي هم راتلی سي. فقط

(۱) وګورئ: ردالمحتار باب العدة ج۲ ص۸۳۵. ط. س. ج۳ ص۵۹۲. ظفير
(۲) الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب العدة ج۲ ص۸۴۵. ط. س. ج۳ ص۵۲۷. ظفير
(۳) مشکوة باب اللعان فصل اول ص۲۸۷. ظفير
(۴) رد المحتار مع الدرالمختار فصل ثبوت النسب ج۲ ص۸۲۸. ط. س. ج۳ ص۵۵۲. ظفير
(۵) ردالمحتار للشامی باب المهر مطلب فی النكاح الفاسد ج۲ ص۴۸۲. ط. س. ج۳ ص۱۳۲. ظفير
(۶) ردالمحتار باب الوطؤ الذی يوجب الحد والذی لا يوجبه ج۳ ص۲۱۲. ظفير

داسلام راوړلو څخه مخکي اولاد صحيح النسب نه دي او وروسته اولاد صحيح النسب دي:

سوال: (۱۲۱۷) هنده يو برهمنه ښځه ده دزيد سره يې ناجائز په پټه ذريعه تعلق قائم کړو اوځه موده وروسته يې بې له پټوالي زيد خپل خاوند مشهور کړی بيا هم زيد دخپلي منکوحه بي بي سره اوسيدی او دهندی سره دناجائزي پردې په ذريعه تعلق يې دمخکی په شان سره پټ ساتی تر شل کاله پوری تخميناً دغه ناجائز تعلق چليدی په دي وخت کي نه صرف دزيد سره بلکه دنورو کسانو سره دغه ناجائز تعلق جوړ سو دهندي دخېټي څخه دري هلکان او دوې انجوني پيدا سوې او ددي نوم يې په صورت دمسلمان کښيښووی ليکن دا تحقيق نسته چه دا اولاد دچا دنطفې څخه پيدا سوي دي او نه زيد دغه اولاد خپل اولاد ګڼي او نه هنده خپله منکوحه تسليموي بيا هم هنده ددغه اولاد دزيد دنطفې څخه پيدا کيدل او خپل ځان دزيد زوجه منکوحه ګڼي او دغه اولاد هم دخپلي مور دبيان تائيد کوي په دي صورت کي به اولاد صحيح النسب منل کيږي که نه؟ وروسته بيا زيد دغه هنده ښځه مسلمانه کړيده او نکاح يې ورسره کړی ده.

جواب: هغه اولاد چه دهندي داسلام راوړلو څخه مخکي دهندي دخېټي څخه سوی دي هغه دمذکوره حالت مطابق صحيح النسب نه دي او دزيد اولاد به نه منل کيږي اوکه چيري زيد هم دهنده په مثل دهندي مسلمان کيدل او ددي دښځي والي بيان وکړی نو نکاح به صحيح ګرځول کيږي او اولاد به صحيح النسب دزيد ګڼل کيږي کذا في الشامي. (۱)

دطلاق څخه نهه مياشتي وروسته چه کم بچي پيدا سو هغه به دخاوند ګڼل کيږي: **سوال:** (۱۲۱۸) زيد خپله منکوحه په ۲۰ دذی قعده باندي قطعاً جلا کړه او پرمورخه ۸ دمحرم باندي يې باين طلاق ورکړی دجدايي څخه وروسته او دمذکوره منکوحې دطلاق څخه مخکي دحيض ورځي ښکاره سوی دجدايی څخه نهه مياشتی وروسته هلك پيدا سو او دزيد دجدايی څخه وروسته دزيد دمنکوحي ناجائز تعلق دمسمي پرشاد سره سوی وو نو دا هلك به دزيد ګڼل کيږي که حرامي؟

جواب: په دي صورت کي نسب ددغه بچي دزيد څخه ثابت دي دغه هلك به دزيد ګڼل کيږي کما يثبت بلا دعوة احتياطا فی مبتوته جاءت به لاقل منهما من وقت الطلاق الخ، درمختار. (۲) فقط

---

(۱) نکح کافر مسلمة فولدت منه لا يثبت النسب منه ولا تجب العدة لانه نکاح باطل (الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب ثبوت النسب ج۲ ص۸۷۱، ط.س. ج۳ ص۵۵۵). ظفير

(۲) الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب ثبوت النسب ص۸۵۸ ج۲، ط.س. ج۳ ص۵۴۱. ظفير

دبني فاطمه فضيلت: **سوال**: (۱۲۱۹) (۱) دبني فاطمي څخه علاوه که هغه صديقي، فاروقي، عثماني، علوي، عباسي وغيره وي نسبًا سيد کيدي سي اوکه نه که چيري نه سي کيدي نو ددغه نسبي سيادت دعوه دارو ته څه وعيد په شريعت حقه کي مقرر دي ياکه نه که چيري سيد نسبًا دي نو څه دليل دي؟

(۲) سيادت نسبي په بني فاطمه کي منحصر دي که نه؟ په دليل سره تحرير کړئ!

جواب: (۱، ۲) دډيرو رواياتو صحيحه ؤ څخه داهل بيتو سيد کيدل معلوميږي داهل بيتو چه څومره قدر مناقب په احاديثو کي مذکور دي دهغو په بناء باندي دا حکم لګول بي ځايه نه دي چه دقريشو په ټبرو کي دټولو څخه بهتر او اشرف نسبًا اهل بيت دي. البته داهل بيتو په تعين کي دعلماؤ اختلاف دي چه اهل بيت چاته ويل کيږي محقق او راجح دا ده چه اهل بيت صرف بني فاطمه نه دي بلکه هغه دي چه پرچا باندي دصدقي کولو ممانعت راغلی دي او دچا دپاره چي صدقه خوړل جائز نه دي: في الهدايه وهم آل علي وآل عباس وآل جعفر وآل عقيل و آل حارث ابن المطلب ([1]) دي کسانو ته اهل بيت ويل کيږي ددوي څخه بني فاطمه نور هم زيات افضل دي په رواياتو کي چه څومره قدر فضائل دبني فاطمه مذکور دي دنورو نه دی نبی عليه السلام ته چي څومره دبني فاطمه قرب حاصل دي دومره دنورو نه دي حاصل شايد ددي وجي څخه دزړي زماني څخه برابر داعرف را روان دي چه بني فاطمه ته سيد ويل کيږي غرض داچه داعرف بي وجه اوبي اصل نه دي په صحيح بخاري کي راغلي دي چه: ان النبی ﷺ جلس على المنبر للخطبة الحسن بن علی الی اجنبه وهو يقبل الناس مرة وعليه اخرى ويقول ان ابنى هذا سيد ولعل الله تعالى ان يصلح به بين فئتين عظيمتين من المسلمين ([2]) ددي روايت څخه اګر چه دبني فاطمه په سيادت نسبي کي پرمنحصر کيدو باندي استدلال نه سي کيدي البته دا ضرور ويل کيدی سي چه دنبي ﷺ دخپلي ژبي مبارکي څخه پر يوچا باندي دسيد اعلان فرمايل بيشکه دهغوی دنسبي سيادت لپاره کافي دي او طمعه دامتياز ده چه دهغه په سبب دتمامو اهل بيتو څخه دفاطمينو مرتبه زياتيدل پکار دي، اهل بيت که څه هم سيد دي ليکن بني فاطمه په سيادت نسبي کي بي شکه دنورو څخه زيات دي. ځکه چه دبني فاطمه نسب دنبي ﷺ سره زيات نژدي دي، په طبراني کي دي عن عمر قال قال رسول الله ﷺ کل بنی انثی ينتمون الی عصبة فان عصبتهم لابيهم ما

([1]) هدايه باب من يجوز دفع الصدقات اليه ومن لا يجوز ص۱۸۲ ج۱، الا اولاد عباس وحارث واولاد ابی طالب من علی وجعفر وعقيل (ردالمحتار باب المصرف ص۹۰ ج۲، ط. س. ج۳ ص۳۵۰). ظفير

([2]) مشکوة عن البخاری باب مناقب اهل البيت ص۵۲۹. ظفير

خلا ولد فاطمه فانی عصبتهم فانا ابوهم ددي روايت څخه معلوميږي چه اګر چه تمام اهل بيت سيد دي ليکن چاته چه سيادت نسبي ويل پکار دي هغه په بني فاطمه کي منحصر دي دبني فاطمه څخه زيات نسبًا هيڅوك سيد نسته ځکه چه نبي کريم ﷺ فرمايي چه که څه هم چه دهر يوه مؤنث اولاد دخپل خپل پلار په طرف منسوب کيږي ليکن بني فاطمه ددي څخه مستثنی دي ددوی عصبيت زما طرفته منسوب دی زه ددوي پلار يم همدا اجزاء دي چه دهغه په وجه دزړي زماني راهيسي دا عرف راروان دي چه دبني فاطمه څخه علاوه نورو ته که څه هم داهل بيتو څخه ولي نه وي سيد نه ويل کيږي اوس ددي عرف پربنا باندي نن که چيري څوك صديقي يا فاروقي يا عثماني يا عباسي يا علوي خپل ځان ته سيد ووايي ددوي دا دعوه نه به اوريدل کيږي نه همدا بني فاطمه ته به سيد ويل کيږي دبني فاطمه څخه علاوه اهل بيت که چيري دخپل سيادت نسبي دعويدار وي نو چونکه داهل بيت کيدو په وجه ددوی سيادت نسبي بې اصل نه دي اګر چه په عرف کي اوس دوی ته سيد نه سي ويل کيدی ددي وجي ددوي په حق کي ددي دعوي په نسبت په شريعت کي څه حد نسته البته که چيري يوڅوك صديقي يا فاروقي يا عثماني خپل ځان ته سيد ووايي او دا پيژني چه موږ څه رنګه نسبًا سيد نه سو کيدي دداسي نسبي سيادت ددعوه دارانو په حق کي وعيد شديد دي: روي مسلم في ص**۵۷** من سعد وابی بکر ان النبی ﷺ يقول من ادعی الی غير ابيه وهو يعلم انه غير ابيه فالجنة عليه حرام ([1]) ترجمه: چه کم سړي چا ته دا ووايي چه دا زما پلار دي او په دي پوهيږي چه دا زما پلار نه دي پرده باندي جنت حرام دي ده ته به عذاب ورکول کيږي دسزا خوړلو څخه بغير جنت ته نه سي داخليدی. نو معلومه سوه که چيری يوسړی باوجود ددي چه دبني فاطمه څخه نه دی خپل ځان ته سيد ووايي عرفا چونکه دسيد پربني فاطمه باندي اطلاق کيدي سي ددی وجي ضمنا دده دا دعوه سوه چه زه دبني فاطمه څخه يم حالانکه خپله پوهيږي چه زه دبني فاطمه څخه نه يم بې شکه دداسي سړي په حق کي همدغه سخت وعيد دي چه په حديث کي ذکر کړل سويدی.

دفاطمه رضي الله عنها څخه علاوه دټولو نسب دپلار څخه وي: سوال: (۱۲۲۰) ظاهره ده چه نسب په شريعت حقه کي دپلار دطرف څخه ثابتيږي نوڅه وجه ده چه دبني فاطمه نسب دفاطمه الزهراء څخه ثابتيږي که چيري دښځي دطرف څخه نسب ثابتيږي نو که ديوې سيدي او يو فاروقي يا صديقي څخه بچي پيداسي نودده نسب به دپلار وي اوکه دمور؟

([1]) مسلم شريف ج۱ ص**۵۷**. ظفير

اوکه ددواړو طرف ته؟ مختار څه دي؟

جواب: روی الحاکم عن جابر عن النبی ﷺ قال قال رسول الله ﷺ کل بنی انثی ینتمون الی عصبة الا ولدی فاطمة فانا ولیها وعصبتها ددي روایت څخه معلومیږي چه ګویا نسب دپلار دطرف څخه ثابتیږي لیکن بني فاطمه ددې څخه مستثني دي دامام حسن او امام حسین رضي الله عنهما نسب دفاطمه رضي الله عنها په واسطی سره دنبي ﷺ په طرف منسوب دي او داصرف دفاطمي رضي الله عنها دسیدة النساء کیدو او ددي دانتهائي شرافت په وجه سره سوی دي دا دحسن او حسین رضي الله عنهما خصوصیت دي، آینده دیوي ښځي دطرف څخه که هغه سیده ولي نه وي نسب به نه ثابتیږي دپلار اعتبار به کول کیږي پلارکه چیري فاروقي وي نو بچی به هم فاروقي وي پلارکه چیري صدیقي وي نو بچي به هم صدیقي وي. فقط

دهاشمي دسیادت دلیل او داهل بیت مراد: **سوال**: (۱۲۲۱) دبني فاطمه څخه علاوه بعضي هاشمیان پرخپل سیادت نسبي باندي دلیل پیش کوي چه پرموږ باندي هر قسم صدقه حرامه ده او موږ داهل بیتو څخه یو لهذا موږ نسبًا سید یو نو دا دلیل ددوي دسیادت نسبي دپاره کافي دي که نه؟ که چیري کافي نه وي نو صدقه پردوی ولي حرامه ده او دا خلق اهل بیت دي که نه؟ اوپه اهل بیت کي څوك څوك داخل دي او دبني فاطمه پرسیادت باندي څه دلیل دي؟

جواب: ددوي دسیادت نسبي دپاره دا دلیل پیش کول صحیح دي لیکن عرفا به دوي ته سید نه سي ویل کیدی داهل بیتو متعلق اول تیر سول چه هغه آل علی او آل عباس او آل جعفر اوآل حارث بن عبدالمطلب او آل عقیل دی صرف بنی فاطمه نه دی (۱) الغرض بني هاشم چه کومو ته اهل بیت ویل کیږي واجب التعظیم او دقریشو په تېرونوکي دټولو څخه په استثناء دفاطمیینو افضل دي دعرف په رعایت سره که چیري څوك ددوی دسیادت نسبي څخه منکر وي نو ددوي دپاره په شرع کي څه جرم نه دي ځکه چه عرفا دوي ته سید نه سي ویل کیدي البته چه کم سړي داهانت په غرض سره منکر وي دده په ګناهګار کیدو کي هیڅ شك نسته په بعضو اوقاتو کي په داسي قسم جګړوکي دپریوتلو څخه دمشرانو په شان کي ګستاخي او په شاپسي یې اهانت کیږي مسلمانانو ته په داسي معاملاتو کي دخل نه دي کول پکار، هذا ما حصل لی والله اعلم وعلمه اتم فان یك صوابا فمن الله وان یات خطاءً فمنی ومن الشطان وکان الله غفوراً رحیما.

---

(۱) ولا الی بنی هاشم (درمختار) تصرفات الزکوة الی اولاد اذا کانوا مسلمین فقراء الا أولاد عباس وحارث واولاد ابی طالب من علی وجعفر وعقیل (ردالمحتار باب المصرف ج۲ ص۹۰۱. ط. س. ج۲ ص۳۵۰). ظفیر

اقول وبالله التوفيق: په ديكي شك نسته چه بني هاشم چه پرچا باندي صدقه حرامه ده سيادت نسبي ددوي مسلم دی بلكه فقهاؤ رحمهم الله تمام قريشو ته په خپلو كي ديو بل كفو وايي او دا ليكي: لا تفاضل بينهم فی الدرالمختار فقريش بعضهم اكفاء بعض قال فی رد المحتار قوله بعضهم اكفاء بعض اشار الی انه لا تفاضل فيما بينهم من الهاشمی والنوفلی والتيمی والعدوي وغيرهم ولهذا زوج علی وهاشمی ام كلثوم بنت فاطمه لعمر وهو عدوی فلو تزوجت هاشمية قريشيًا غير هاشمی لم يرد عقدها الخ [1] ص۳۱۸ جلد ثانی شامی، اوپه ردالمحتار كي هم په دغه صفحه كي دي: والخلفاء الاربعة كلهم من قريش الخ [2] البته په دي كي هم څه تردد نسته چه دبني فاطمه فضيلت زيات دي او عرفا سادات دوي ته ويل كيږي او نزاع په داسي امورو كي بې مقصده ده والسلام علي من اتبع الهدي.

دپلار څخه چه كم اولاد وسي صحيح النسب دي دچا په وينا سره حرامي كيږي نه: سوال:

(۱۲۲۲) هنده دبكر بي بي وه بكر هندي ته طلاق وركړی او وې ايسته هنده تر ډير وخت پوري بي خاونه ده اوسيده او وروسته هندي دزيد سره دويمه نكاح وكړه او زيد اوهنده اندازتًا ترديرشو كالو پوری دخاوند اوښځي په طور په كوركي يو ځاي اوسيدل او عام دسيمي اوسيدونكو وغيره دوي جائز سړي او ښځه ګڼل او دوي خپله هم په خپلوكي يو بل نكاحي خاوند اوښځه بيانول په دغه وخت كي دهندي دخيتي څخه دوه هلكان او يوه انجلۍ پيدا سول چه دوي زيد خپل او نسبي اولاد ومنل اودپيدايش په وخت يې پرهرو درو واړو باندي دملك درواج په حساب خوشحالي وغيره وكړه او ددي درو واړو ودونه هم زيد په خپل كفوه كي وكړل او زيد دوفات څخه مخكي وصيت وكړی او جائيداد منقوله او غير منقوله يې دحصې موافق پردرو واړو باندي تقسيم كی اوس پنځه كاله كيږي چه زيد مړ سو او دزيد دوفات څخه وروسته څلور واړه وارثان چه زيد پريښوولي دي هغوي پرجائيداد منقوله او غير منقوله باندي دمتوفي زيد چه قابض او مالك تردغه وخته وو دزيد زامنو دسركار په رجسټر كي دنومونو درج كولو په هكله دعوه وكړه چه دهغې درې كاله وسول، دزيد عزيزانو په مذكوره دعوي كي دا عذر وكی چه عمر او خالد دزيد حرامي اولاد دي چونكه دهندي نكاح دزيد سره نه وه سوي ځكه چه مخكني خاوند بكر هندي ته طلاق نه وو وركړي دهندي دطرف څخه دطلاق ګواهان پيش سول بيان كوي چه مسمات هنده ته پرفلاني مقام باندي مخكني خاوند بكر زموږ په مخكي

---

(1) ردالمحتار باب الكفاءة ج۲ ص۴۳۸. ط. س. ج۳ ص۸۴. ظفير
(2) ايضاً ط. س. ج۳ ص۸۴. ظفير

طلاق ورکړي دي بيا دزيد عزيزانو دا عذر پيش کړی چه دمسمات هنده نکاح دزيد متوفي سره نه ده سوی ددي وجي اولاد ولد الحرام دی په دي باندي ګواهان دهندي دطرفه او نکاح خوان داثبات دپاره پيش سول بيان کوي چه دمسمات هنده نکاح ما خپله لوستلی ده او نورو ګواهانو بيان وکی چه موږ په مجلس دعقد کي شريك وو او نکاح زموږ په مخکي وسوه، اوس سوال دا دی:

سوال: (۱/ ۱۲۲۲) چه کم اولاد دهندي دخيټي څخه پيدا سو هغه زيد خپل صلبي اولاد تسليم کړي دي دغه دری واړه اولاد نسبي او صلبي دي دزيد دي که نه؟

اولاد به دپلار دجايداد وارثان وي: **سوال**: (۲/ ۱۲۲۲) عمر او خالد دواړه زامن دوفات سوی زيد دجائيداد منقوله او غير منقوله وارثان دي که نه؟

سوال: (۳/ ۱۲۲۲) په لوړو وجوهاتو سره دمسمات نکاح ثابته ده که نه؟

سوال: (۴/ ۱۲۲۲) دپورتنيو ذکر سويو واقعاتو څخه دهندي واقعي طلاق ثابتيږي اوکه نه؟

سوال: (۵/ ۱۲۲۲) دوفات سوی زيد عزيزان دطلاق او نکاح دانکار شهادت په شرع کي پيش کولي سي اوکه نه؟

چي کم شرعي حکم وي تحرير يی کړئ !

جواب: (۱) چه کم اولاد دزيد دهندي دخيټي څخه سوی دي هغه دزيد څخه ثابت النسب دي او دزيد وارثان دي.

جواب: (۲) عمر او خالد او ددوي خور او مور څلور واړه دزيد دمنقوله او غير منقوله جائيداد دشرعي حصو موافق وارثان دي دحقوق مقدمه علي الميراث دادا کولو څخه وروسته به پردوي ټولو دزيد ميراث تقسيميږي موافق دفرائضو او حصو.

جواب: (۳ – ۴) دهندي نکاح به دزيد سره صحيح منل کيږي او داول خاوند طلاق ورکول چه په دوو عادلو ګواهانو سره ثابت دي نو دده طلاق به ثابتيږي او دعدت څخه وروسته چه کمه نکاح دزيد وسوه هغه به صحيح منل کيږي.

جواب: (۵) دزيد دخپلوانو دزيد دطلاق او نکاح پرنفي باندي ګواهان پيش کول به معتبر نه وي او دغه ګواهي به نه اوريدل کيږي کما فی الشامی: والنسب يحتال لاثباته مهما امکن الخ او ددي څخه مخکي دي: لانها شهادة علی النفی معنی فلا تقبل الخ شامی جلد ثانی ص۲۲۷ باب ثبوت النسب. [1]

---

[1] فصل فی ثبوت النسب ج۲ ص۸۲۳ – ۸۲۴. ط. س. ج۳ ص۵۴۷. ظفير

دنکاح څخه څلور یا درې میاشتي وروسته چه کم بچي پیدا سو هغه صحیح النسب نه دي:

سوال: (۱۲۲۳) زید دهندي سره په ۲۷ دربیع الاول سنه ۱۳۱۸ هجري کي عقد دنکاح وکی اوپه ۲۷ دجمادي الأولي سنه ۱۳۱۸ هجري کي دهندي بچي پیدا سو، داویل کیږي چه هندې ته خپل مخکني خاوند طلاق ورکی دیو کال څخه زیات وخت سوی دي چه جدا کړي یی ده په دي صورت کي دغه هلك دزید زوي به ګڼل کیږي که دهندي داول خاوند بکر زوي به ګڼل کیږي، دداسي هلك وراثت به دچا طرفته منتقل کیږي؟

جواب: دشپږو میاشتو څخه وروسته نسب نه ثابتیږي نو چه کم بچي دنکاح څخه دوې میاشتی وروسته پیدا سوی دي دده نسب ددغه ناکح یعني دویم خاوند څخه نه ثابتیږي او دمخکي خاوند څخه دنسب په ثابتیدو یا نه ثابتیدو کي دا تفصیل دي چه که طلاق رجعي وو او مطلقه زنانه دعدت دتیریدو اقرار نه وو کړي نو په دوه کاله کي او ددي څخه په زیات کي که چیري پیدا سي نو ددغه اول خاوند څخه به ګڼل کیږي او نسب به دهغه څخه ثابت وي او ولادت به درجعت دلیل بلل کیږي او دویمه نکاح به باطله سي اوکه چیري طلاق بائن وو نوکه چیري ددوو کلونو څخه په کم کي بچي پیدا سو او دعدت دتیریدو اقرار یی ونه کړی نو نسب ددغه بچي به داول خاوند څخه ثابت وي او دویمه نکاح به په دي صورت کي هم باطله وي کما في الدر المختار: فیثبت نسب ولد معتدة الرجعی الخ وان ولدت لاکثر من سنتین الخ ما لم تقر بمضی العدة الخ وکانت الولادة رجعة کما یثبت مبتوتة جاءت به لاقل منهما من وقت الطلاق الخ (۱) درمختار، او وراثت دهلك به ددویم خاوند په طرف نه سي منسوب کیدي او داول خاوند په طرف به په دي صورت کي منسوب کیږي ولي چه نسب دده داول خاوند څخه ثابت دي او که چیري ثابت نه وي مثلاً دغه مطلقی دعدت دتیریدو اقرار کړي وي او داقرار دوخت څخه دشپږو میاشتو څخه په کم کي بچی نه وي پیدا سوی نو بیا نسب ددغه بچي داول خاوند څخه به هم نه وي ثابت او ددې څخه به هم وراثت نه وي ثابت په دي حالت کي به صرف دخپلي مور وارث وي او دده مور به دده وارثه وي پلار دده به هیڅ نه وایي. فقط

دخاوند والا ښځي داولاد نسب: **سوال:** (۱۲۲۴) یو سړي ملازم پرخپل ملازمت باندي دی دده کوچني ورور دده بي بي په خپل کورکي وساتله چه دهغه څخه یې حمل وسو اوس دغه سړي په رخصتي باندي راغي ده په دغه بدکاری باندي غیرت ونه کړی بلکه خوشحاله دي آیا ددغه دواړو ورونوڅخه اهل اسلام ته ترتوبي پوري اجتناب لازم دي که

(۱) الدرالمختار علی هامش ردالمحتار فصل فی ثبوت النسب ج۲ ص۸۵۷ ط. س. ج۳ ص۵۴۰. ظفیر

نه؟

جواب: دحاملي ښځي حمل او اولاد چه پيداسو هغه شرعًا دخاوند دي اودخاوند څخه نسب دده ثابتيږي نودا حکم کول چه دا دخاوند نه دي بلکه دده دورور دي غلط دي: لقوله عليه السلام الولد للفراش وللعاهر الحجر (۱) اوپه درمختار کي دي: حتى لونكح مشرقى بمغربية يثبت نسب اولادها منه الخ (۲) نوچه کله مسئله دا ده نو بيا هيڅا ته دا حق نسته چه دليدو څخه بغير دزنا حکم وکړي او دغه حمل واقعي دزنا حمل وګڼي او ددوي سره متارکت وکړي.

دعدت دزماني دنکاح څخه دپيدا سوي اولاد حکم: **سوال**: (۱۲۲۵) زيد خپلي بي بي هندي ته طلاق ورکی هندي څلور ورځي وروسته دبکر سره نکاح وکړه او هلك پيدا سو هلك ته حرامي ويل جائز دي که نه او دبکر وارث به وي که نه؟

جواب: په درمختار کي ديږ ويجب مهر المثل فى نكاح فاسد وهوالذى فقد شرطا من شرائط الصحة كشهود الخ قال فى ردالمحتار قوله كشهود ومثله تزوج الاختين لكن معًا ونكاح الاخت فى عبده الاخت ونكاح المعتدة والخامسة فى عدة الرابعة والامة على الحرة وفى المحيط تزوج ذمى مسلمة فرق بينهما لانه وقع فاسداً فظاهرة انها لا يحدان وان النسب يثبت فيه والعدة ان دخل بحر قلت لكن سيذكر الشارح فى آخر فصل فى ثبوت النسب عن مجمع الفتوى نكح كافر مسلمة فولدت منه لا يثبت النسب منه ولا تجب العدة لانه نكاح باطل (۳)، الحاصل روايات په دي باره کي مختلف دي اوپه صورت مذکوره کي احوط دنسب ثبوت او دوراثت ثبوت دي يعني نسب ددغه هلك دبکر څخه ثابت دی او دغه هلك دبکر وارث دی. فقط

اوولسم باب : باب الحضانة

د بچيانو دپرورښت متعلق حکمونه او مسائل

دمور څخه وروسته انا ته دترتيبت حق سته: **سوال**: (۱/۱۲۲۶) داسي بالغه انجلۍ چه دهغې عمر څلور کاله وي او مور ددي وفات سوی وي او دپيدائش دورځي څخه دانا په کورکي تربيت سوی وي اودمور دوفات کيدو څخه مخکي هغې خپلي موريعني دانجلۍ

(۱) مشکوة باب اللعان فصل اول ص۲۸۷. ظفير

(۲) الدرالمختار على هامش ردالمحتار باب ثبوت النسب وقد اكتفى بقيام الفراش بلا دخول كتزوج المغربى مشرقية بينهما سنة فولدت لستة اشهر له تزوجها لتصوره كرامة او استخداماً (ايضاً ج۲ ص۸۲۸ باب ثبوت النسب. ط. س. ج۳ ص۵۵۰). ظفير

(۳) ردالمحتار باب المهر مطلب فى النكاح الفاسد ج۲ ص۴۸۱ – ۴۸۲. ط. س. ج۳ ص۱۳۱. ظفير

انا ته سپارلي وي دبلوغ ترکاله پوری به دخپلي انا سره اوسيږي که دانجلۍ پلار يې جبراً اخستي سي؟ که چيري داناسره به اوسيږي نو ترڅو کاله پوري؟ او ددي دپرورش دخرچي ذمه دار به دانجلۍ پلار وي که انا؟

سوال: (۲/۱۱۲۶) چه په کم صورت کي دا بيره ده چه دغه مذکوره بالا لور خپل پلار ته حواله کړل سي نو هغه دغه لور په يو عيسايي سکول کي حواله کوي نو شرعاً دغه انجلۍ خپل پلار ته حواله کول پکار دي که به دانا سره اوسيږي؟

جواب: نابالغه انجلۍ به تربالغ کيدو پوري دخپلي انا په تربيت کي اوسيږي او په دغه مسئوله صورت کي دحضانت حق انا ته دي خو په دي شرط چه يو داسي امر نه وي چه دحق دحضانت ساقطونکي وي او ددغه انجلۍ اخراجات به ددي دپلار پرذمه لازم وي قال الشامی واما النفقة علی الولد اذا لم تتبرع بها فهل لها الرجوع بها علی الاب قيل نعم (۱) الخ وقال فی الدرالمختار ثم ای بعد الام ام الام الخ وفيه ايضاً فی مقام اخر والام والجدة لاب وام احق بها ای بالصغيرة حتی تحيض ای تبلغ الخ. (۲)

دمور، انا او ترور څخه وروسته تربيت به عمه کوي (يعني دپلار خور) دخاله خاوند به يې نه کوي: **سوال**: (۱۲۲۷) يو هلك ديونيم کال په عمر يتيم دي دده دخاندان هيڅوك وارث موجود نه دي صرف ددغه هلك دمشر تره ښځه موجوده ده او دده دتره ددغي ښځي دوه زوجان دي ديوه نوم عظيم داد خان او دبل نوم کوچنی خان دي دمرګ په وخت ددغه هلك مور وصيت کړي وو چه عظيم داد خان وغيره! ته زما دبچي تربيت کوه نو په رضامندي سره عظيم داد خان وغيره دغه هلك دخپل تره دښځي سره اوسول اوس دغه هلك دده دتره زوي دده دتره دښځي څخه په زبردستي سره بيايي او دده مال بربادول غواړي ددغه هلك دکفالت زيات حقدار څوك دي؟

جواب: ددغه هلك ترور (عمه) که چيري موجوده وي نو دمور، انا، خاله وغيره څخه وروسته دتربيت حق دترور يعني عمه دپاره دي ليکن که موجود نه وي نو دترور زوي ته څه حق پردغه بچي باندي نسته کما في الدرالمختار: ولا حق لولد عم وعمة وخال وخالة لعدم المحرمية وفی ردالمحتار (۳) ولا لابن العمة فی حضانة الغلام الخ (۴) بيا شامي په

---

(۱) وتجب النفقة بانواعها علی الحر لطفله يعم الانثی والجمع الانثی والجمع الفقير (الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب النفقة ج۲ ص۹۳۲. ط. س. ج۳ ص۲۲۱). ظفير

(۲) يثبت للام الا ان تکون مرتدة الخ او فاجرة الخ ثم ای بعد الام بان ماتت الخ ام الام الخ والام والجدة احق بها ای بالصغيرة حتی تحيض ای تبلغ فی ظاهر الرواية (الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب الحضانة ج۲ ص۸۷۱ – ۸۸۱. ط. س. ج۳ ص۵۵۲ – ۵۵۵). ظفير　=

دي کي دا بحث کړي دي چه اګرچه محرميت دلته نسته ليکن چه په کم صورت کي څه خطره دفتني نه وي هلته دحضانت حق باقي دي مثلاً دتره زوي ته دنابالغ هلك حق حضانت حاصل دي دنابالغي انجلۍ حق حاصل نه دي دغه رنګه دترور زوي ته پرنابالغي لور باندي حق نسته ليکن پرنابالغ هلك باندي حق سته نو ددي مقتضي دا ده چه په موجوده صورت کي دترور زوی يی ډير حقدار دي دده دتربيت دپاره. فقط

دانا دشتون سره ترور (عمه) ته دتربيت حق نسته: سوال: (۱۲۲۸) عبد الرحمن متوفي يوه بي بي او يو هلك او يوه انجلۍ نابالغه پريښودل بيا دعبد الرحمن بي بي هم وفات سوه دي خپل زوي او لور مذکوره خپلي مور ته حواله کړل څه ورځي وروسته دعبد الرحمن خور دمال او اسباب په طمع دغه نابالغ ددوی دانا څخه په زبردستي سره واخيستل دا شرعًا جائز دي اوکه نه؟ او دپرورش حق شرعًا چا ته دی؟

جواب: دمور څخه وروسته پرورش دنابالغو دانا حق دي نوترور ته دا حق شرعًا نسته چه هغه دغه نا بالغ ددوي دانا څخه په زور او زبردستي سره واخلي، کذا في الدر المختار ([۱]). فقط

دانا په موجودګي کي دپلار داکا لمسي ته دتربيت حق نسته: سوال: (۱۲۲۹) محموده بيګم وفات سوه او دي دوه زامن نابالغ يو شيرخوار او دويم دشپږو کالو په عمر او يوه لور نابالغه دپنځو کالو په عمر پريښوده او دا دري واړه دخپلي انا سره په حق دحضانت زير پرورش دي اوس يونيم کال وروسته محمد عابد ددغه نابالغو پلار وفات سو متوفي په خپل ژوند کي داولاد مذکوره په خوراك څښاك کي هيڅ ورنکړل اونه يي دآئنده دپاره څه انتظام وکی اوس يو سړي عبد الباسط دوفات سوی دپلار داکا لمسی او يو سړي بهاؤ الدين چه دمتوفي ماما دی چه خسر يې هم کيږي چه دزوجه اولی دوفات څخه وروسته يو کال وسو ددي دخور سره ك نکاح کړي وه چه حامله وه، اوس چه کمه برخه دنابالغو په حصه کي متروکه دمور اوپلار څخه ورسيده دهغی محافظ او متصرف اوولي دمتوفي دپلار داکا لمسی دي که دمتوفي ماما چه خسر يی هم دي اوکه دنابالغو نيکه او انا؟ کم څوك کيدی سي؟ او شرعًا صرف خوراك او څښاك ديتيمانو په مال ناجائز دي که نه؟

([۳]) الدر المختار على هامش ردالمحتار باب الحضانة ج۲ ص۸۷۹. ط. س. ج۳ ص۵۲۴. ظفير
([۴]) ردالمحتار باب الحضانة ج۲ ص۸۷۹ ط. س. ج۳ ص۵۲۴. ظفير
([۱]) ثم اى بعد الام بان ماتت الخ ام الام الخ ثم ام الاب (الدر المختار على هامش ردالمحتار باب الحضانة ج۲ ص۸۷۷ – ۸۷۸. ط. س. ج۳ ص۵۲۲). ظفير

جواب: دپرورش حق ددغه بچيانو په دي صورت كي ددوي انا ته دي (١) چه دچا په پرورش كي دوي دي ولايت دنابالغو دمال پلار ته كيږي يا دپلار وصي ته يا نيكه ته يا دهغه وصي ته يا قاضي او حاكم ته يا څوك چه هغه مقرر كوي او دپلار داكا لمسى يا ماما دنابالغو دمال ولي نه دي لكه څه رنگه چه په شامي كي دي: واما ماعدا الاصول من الوصية كالعم والاخ او غيرهم كا لام ووصيها وصاحب الشرطة لا يصح اذنهم له لانهم ليس لهم ان يتصرفوا في ماله تجارة فكذا لا يملكون الإذن له فيها والاولون يملكون التصرف فى ماله الخ (٢) ددې څخه معلومه سوه چه دپلار او نيكه څخه علاوه اكا يا دهغه اولاد يا ورور ته دنابالغ په مال كي دتصرف اختيار نسته اوپه شامي جلد ثالث كتاب الوقف كي دي چه ديتيم په مال كي كه داهل محله صلحاء څوك تصرف داسي وكړي چه په هغه كي دنابالغ فائده يا دهغه ضرورت وي نو جائز دى په دي بناء باندي نيكه يا انا چه دچا په پرورش كي دا نابالغ دي دنابالغو په مال كى تصرف دضرورت په موقع كولی سي او ددوي دپاره څه شی اخستي سي او دبيع او شراء تصرف كولي سي نو دنابالغو دمال حصه ددوي انا او نيكه ته سپارل مناسب دي او ددوی دپاره دا جائز دي چه دنابالغو دخوراك او څښاك دپاره ددوي دحصې څخه خرڅ وكړي او دضرورت مطابق په بيع اوشراء كي تصرف وكړي، په رد المحتار جلد ثالث كتاب الوقف كي دي: قلت وذكروا مثل هذا فى وصى اليتيم وانه لو تصرف فى ماله احد من اهل السكة من بيع او شراء جاز فى زماننا للضرورة وفى الخانية انه استحسان وبه يفتى الخ. (٣)

طلاقه سوي مور چه ترڅو پوري دبچي غير محرم سره واده ونه كړي دپرورش حق لري:

سوال: (١٢٣٠) زيد هندي ته طلاق وركړى دطلاق څخه وروسته همدغه وخت هنده دخپل والدينو كور ته ولاړه يو هلك دپنځه نيمو كالو او يوه انجلۍ دنهو كالو سړي ته يې وركړل او ولاړه اودطلاق وركولو درې مياشتي تيرې سوې اوتر اوسه پورې دوه بچيان دزيد سره دي اوس درې مياشتی وروسته دهندي دپرورش كولو دعوي ده آيا دبچو دپرورش حق چاته دي هندي ته كه زيد ته؟ خلاصه تحرير كړئ! بينوا وتوجروا !

جواب: دپرورش حق مور ته دي چه ترڅو پوري چه هغه دبچيانو دغير محرم سره خپله نكاح ونه كړي او دنر هلك دپرورش حق تر اوو كالو پوري دي او دمونث انجلۍ دپرورش

---

(١) ايضا. ط. س. ج٣ ص٥٦٢. ظفير

(٢) ردالمحتار كتاب الماذون مطلب فى تصرف الصبى ومن له الولاية عليه ج٥ ص٩٥٢. ط س. ج٦ ص١٧٣. ظ

(٣) ردالمحتار كتاب الوقف مطلب ولاية نصب القيم الى الوقف الخ ج٣ ص٥٦٦. ط. س. ج٤ ص٤١٢. ظفير

حق دبلوغ تر کاله پوري (١). فقط والله تعالي أعلم

ديوولسو کالو انجلۍ ولي دعمه اوترور څخه اخستي سي: **سوال:** (١٢٣١) دشرم خاتون مور مخکي وفات سوی ده دپرورش دپاره دانا سره اوسيده او دپلار په ميراث سره يې ګزاره کوله دانا دمرګ څخه وروسته دپلار دمور سره يې پرورش کيدی بيا دغه دپلار مور هم مړه سوه دغه وخت دپرورش دپاره دترور (عمه) صاحب خاتون سره اوسيده اوس دغه انجلۍ يولسو کالو ته رسيدلي ده دمحمدبخش متوني مشر اکا حسين هم مړ سوي دي اوس احمد مذکور دغه انجلۍ مذکوره ددي دعمه یاترور مسمات صاحبه خاتون څخه واپس اخيستل غواړي صاحب خاتون انکار کوي او وايي چه زما پرورش دانجلۍ تر بلوغ پوری دي ددې څخه مخکي يې څخه درکوم په دي صورت کي احمد مسمات شرم خاتون ددي دترور صاحب خاتون څخه اخستي سي اوکه نه او دحسين متوفي هلك الله دته موجود دي هغه اګر چه په عصوبة کي تراحمد مذکور کم دي ليکن ددغه مذکوره انجلۍ ماما هم کيږي هغه دانجلی په متولي جوړيدو کي داحمد څخه زيات تر مستحق دي که نه؟

جواب: په درمختار کي دي وغيرها احق بها حتى تشتهى وقدر بتسع وبه يفتى وثبت احدى عشر مشتهاة اتفاقا الخ (٢) ددي عبارت څخه معلومه سوه چه دمور، انا (دمور مور)، او انا (دپلار مور) څخه علاوه نورو حاضنه ؤ ته دپرورش دانجلۍ تر مشتهاة کيدو پوري دي او ديولسوکالو انجلۍ په اتفاق سره مشتهاة ده لهذا مسمي احمد چه دنابالغ ولي دي دا دصاحب خاتون څخه اخستي سي او الله دته دمسمي حسين زوی ته داحمد مذکور په موجودګی کي دولايت حق حاصل نه دی. فقط

مور ته دپرورش حق سته چه ترڅو پوری دبچي دغير محرم سره واده ونه کړي: **سوال:** (١٢٣٢) زيد هندي ته طلاق ورکی او هندي مهر معاف کی او دبچيانو څخه يې دلا دعوي کيدو اقرار وکی اوس دري نيمي مياشتي وروسته دبچيانو دپرورش دعوي کوي آيا دپرورش حق دچا دي او دهندي داقرار په ماتولو باندي طلاق وسو که نه؟

جواب: چه ترڅو پوری هنده دبچيانو دغير محـــرم سره نکاح ونه کړي دپرورش حق شرعًا

---

(١) الحضانة ثبت للام الخ الا ان تكون مرتدة الخ او فاجرة الخ او غير مامونة الخ او متزوجة بغير محرم الصغير الخ والحاضنة اما او غيرها احق به اى بالغلام حتى يستغنى عن النساء وقدر بسبع وبه يفتى الخ واحق بها اى بالصغيرة حتى تحيض اى تبلغ فى ظاهر الرواية (الدرالمختار على هامش ردالمحتار باب الحضانة ج٢ ص٨٧١ - ٨٨١. ط. س. ج٣ ص٥٥٥ - ٥٥٢). ظفير

(٢) الدر المختار على هامش ردالمحتار باب الحضانة ص٨٨١. ج٢ ط. س. ج٣ ص٥٢٢. ظفير

هنده ته دي (۱) اوطلاق چه سويدی اوس هغه باطل کيدی نه سي. فقط

مورته دهلک او انجلۍ دپرورش حق: **سوال**: (۱۲۳۳) زيد دخپلي بي بي سره تکرار وکی او ورڅخه جدا سو دزيد څخه ددغه ښځي يوه انجلۍ داتوکالو په عمر او يو هلك دڅلورو کالو په عمر موجود دي زيد جبراً انجلی بوتله او دهغې نکاح يې وکړه او هلك هم په جبر سره اخستل غواړي دعدالت قانون دلسو کالو دعمر څخه کم اجازت نه ورکوي چه بچی دخپلي مور څخه جلا کړل سي شرعًا څه حکم دي زيد په کم عمرکي دغه بچي دخپلي مور څخه اخيستلي سي؟

جواب: دپروش دحق په باره کي حکم شرعي دا دي چه انجلۍ دمور سره ده تر بالغيدو پوري، ددې څخه مخکي بغير دڅه امر مانع او بغير دحضانت دحق دسقوط څخه پلار خپل اولاد ددوی دمور څخه جبراً نه سي اخستي (۲) او دنکاح اختيار پلار ته دي دنکاح ولي هم هغه دي ده ته اختيار دي چه دنابالغو نکاح دڅا سره مناسبه ګڼي ودي کړي په دي کي مور ته څه دخل او اعتراض نه سي کيدي الغرض مذکوره نکاح صحيح ده البته دپرورش حق مورته دانجلۍ تر بلوغ پوري دي. فقط

دپرورش حق مور ته دي اونفقه پرپلار باندي ده: **سوال**: (۱۲۳۴) دزيد بي بي بد چلنه ده ددي وجي زيد ددې څخه کناره کشي اختيار کړه دوه هلکان چه دهغوي عمر پنځه نيم کاله او دري نيم کاله دي دزيد سره اوسيدل پکاردي که دزيد دبي بي سره که چيري دزيد دبي بي سره پاته سي نو ددوي دخرچي ذمه دار به څوك وي؟

جواب: دپرورش حق ددغه بچيانو مورته حاصل دي دانجلی دپاره دپرورش حق تر بلوغ پوری دي او دهلك دپاره اووه کاله دي او ددوی نفقه دپلار پر ذمه ده ليکن دمور دبدچلنی په وجه که چيري بچيانو ته دضائع کيدو خطره وي نو دمور حق ساقط دي بيا که چيري بله حاضنه دپرورش کوونکي خاله يا عمه وغيره نه وي نو پلار يې اخستي سي. (۳)

دناجائز بچي خرچه او بوج پرمور باندي دي: **سوال**: (۱۲۳۵) دهندي دناجائز حمل څخه چه

(۱) الحضانة تثبت للام الا ان تکون مرتدة الخ او فاجرة الخ او متزوجة غير محرم الصغر (الدرالمختار على هامش ردالمحتار باب الحضانة ج۲ ص۸۷۱ – ۸۷۲. ط. س. ج۳ ص۵۵۵). ظفير

(۲) الحضانة تثبت للام الخ والحاضنة اماً او غيرها احق به ای بالغلام حتی يستغنی عن النساء وقدر بسبع الخ واحق بها ای بالصغيرة حتی تحيض ای تبلغ فی ظاهر الرواية (الدر المختار علي هامش ردالمحتار باب الحضانة ج۲ ص۸۷۱ – ۸۸۱. ط. س. ج۳ ص۵۵۵ – ۵۶۶). ظفير

(۳) الحضانة تثبت للام الخ الا ان تکون مرتدة الخ او فاجرة فجوراً يضيع الولد به کزنا وغناء وسرقة کما فی البحر (الدرالمختار علی هامش رد المحتار باب الحضانة ج۲ ص۸۷۱ – ۸۷۲. ط. س. ج۳ ص۵۵۵ – ۵۵۶).

کم هلك پیدا سو دهغه دترتیبت دبوج څوك ذ مه داردي؟

جواب: دده پرورش هم دمور پر ذمه دي. (١)

دولد الزنا تربیت کول گناه نه ده: **سوال**: (١٢٣٦) یوي ښځي زنا وکړه انجلۍ پیدا سوه چه کله انجلۍ داوو کالو سوه نو مور یې مړه سوه دهلك نیکه (دمور دطرفه) دده پرورش کوي خلق اعتراض کوي نو دغه نیکه به دده پرورش کوي اوکه نه؟

جواب: دنیکه پرورش کول ددغه انجلۍ هیڅ گناه نه ده بلکه دثواب کار دي او ضروري دي نو په دي وجه پریښودل یې دنیکه دپاره درست نه دي. فقط

مور، انا (دمور مور) او انا (دپلار مور) ته دپرورش حق: **سوال**: (١٢٣٧) زید یو هلك دشپږو میاشتو پریښودی او وفات سو دزید ورور څه خبر وانه خستی اوس دزید بي بي مسماة هنده دویم عقد کول غواړي عمر دهندي هلك اخیستل غواړي او وایي چه که دهنده بي عقده اوسي نو بیا هلك ددي دي کنه نوعمر به یې بوزي شرعاً څه حکم دي؟

جواب: مسئله داده چه که چیري هنده خپله نکاح دداسي سړي سره وکړي چه دهلك محرم نه وي نو دهندي دپرورش حق به ساقط سي (٢) او دمور څخه وروسته دپرورش حق دښځو حق دي لکه ناني (دمور مور)، دادي (دپلار مور)، خاله، عمه وغیره ددوی حق به وي دعمر حق به هغه وخت وي چه په مذکوره بالا ښځو کي یوه هم نه وي. (٣) فقط

دمور، ناني (دمور مور)، دادي (دپلار مور) او خاله څخه وروسته عمه ته دپرورش حق حاصلیږي: **سوال**: (١٢٣٨) زید او بکر دواړه حقیقي ورونه دي دزید زوی عمر دی دده دپنځو کالو یوه لور ده دا یې پریښوده او عمر وفات سو دده بي بي دویمه نکاح وکړه دمتوفي عمر یوه حقیقي خور موجوده ده اودرې یې داکا زامن دي په دې صورت کي دپرورش حق چاته دي؟

جواب: دمحمد عمر متوفي بي بي که نکاح دداسي سړي سره کړي وي چه دانجلۍ محرم نه دي نو دده دپرورش حق ساقط سو اوس په موجوده صورت کي چه دانجلۍ ناني، دادي، خاله هیڅوك نسته نودپرورش حق دانجلۍ عمه یعني دمحمد عمر خورته دي. (٤)

---

(١) الحضانة تثبت للام النسبية (ایضاً ج٢ ص٨٧١. ط. س. ج٣ ص٥٥٥). ظفیر

(٢) والحضانة یسقط حقها بنکاح غیر محرمة ای الصغیر (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب الحضانة ج٢ ص٨٨٠ ط. س. ج٣ ص٥٦٥). ظفیر

(٣) ثم ای بعدالام بان ماتت الخ او تزوجت باجنبی ام الام الخ ثم ام الاب الخ ثم الاخت ثم الخالات کذالك ثم العمات کذلك (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب الحضانة ج٢ ص٨٧٧ ط.س. ج٣ ص٥٦٣ – ٥٦١). ظ

(٤) فان لم یکن له ام فام الام الخ فان تکن له ام الام فام الاب فان لم تکن له جده فالاخوات الخ ثم الخالات الخ ثم العمات الخ وکل من تزوجت من هولاء یسقط حقها (هدایه باب الحضانة ج٢ ص٤١٤). ظفیر

مور چه کله دغیر سره واده وکړي او انا دمور مور نه وي نو دادي (دپلار مور) ته دپرورش حق دي: **سوال**: (۱۲۳۹) شکر الله وفات سو یو هلك نابالغ اسماعیل او یو حقیقي ورور او زوجه حشمت چه دویمه نکاح یې کړیده او مور یې وارثان پریښودل نو دپرورش حق چاته دي یعني داسماعیل انا (دمور مور) ته که داسماعیل نیکه (دمور پلار) ته؟

جواب: داسماعیل دپرورش حق دحشمت دغیر سره دنکاح کولو څخه وروسته داسماعیل (دادي) انا ته دي او دنکاح ولایت دده حقیقي اکا ته دی نانا (نیکه) ته دپرورش هیڅ حق نسته. ([1])

مور، ناني، دادي (دمور مور او دپلار مور) څخه وروسته دپرورش حق خور ته دی ماما ته نه دي: **سوال**: (۱۲۴۰) دیوي نابالغي یتیمي انجلۍ پرورش ددوه کالو څخه چه کله یې مور او پلار وفات سوی دي ددغه انجلۍ دمشري خور پرذمه دي او خاله زاده خور یې هم کفالت کوونکي ده اوس دغه انجلۍ په خپله قبضه کي دراوستو دپاره حقیقي ماما په عدالت کي دعوه کړیده په دي صورت کي دنکاح دولایت او دپرورش دولایت حق چاته دي؟

جواب: دنابالغي انجلۍ دپرورش حق دمور، ناني، دادي څخه وروسته ددي خورته دي دخور په موجودګی کي ماما ته دپرورش حق نسته او دنکاح اختیار هم دعصباتو دنیستوالي په صورت کي دمور وغیره څخه وروسته خور ته دي ماما ته دنابالغی دولایت نکاح او اختیار په دي صورت کي نسته په درمختارکي دي: فان لم یکن عصبة فالولایة للام الخ للاخت الخ ثم لذوی الارحام العمات ثم الاخوال الخ. ([2])

مور چه کله دغیر سره نکاح وکړي نو دهغې دپرورش حق ختمیږي: **سوال**: (۱۲۴۱) زید یوه بي بي او خور ددوه نیم کالو پریښودل او وفات سو دوه کاله وروسته زنانه دویمه نکاح وکړه دزید داکا زوي دغه انجلۍ اخیستل غواړي نو دغه زنانه دځان سره ساتلي سي او که نه؟

جواب: که چیري دغه ښځه دویمه نکاح دداسي سړي سره کړي وي چه دانجلۍ محرم نه دی نوددغه انجلۍ دپرورش حق ساقط سونوددي انجلۍ دساتلوهیڅ حق اوجبرنسته. ([3])

([1]) ثم ای بعد الام الخ ام الام الخ والحاضنة یسقط حقها بنکاح غیر محرمه ای الصغیر (الدر المختار علی هامش رد المحتار باب الحضانة ج۲ ص۸۸۵. ط. س. ج۳ ص۵۲۲) الولی فی النکاح العصبة بنفسه الخ بلا توسط انثی (ایضا باب الولی ج۲ ص۴۲۷ ط.س. ج۳ ص۷۶). ظفیر

([2]) الدر المختار علی هامش رد المحتار باب الولی ج۲ ص۴۲۷. ط. س. ج۳ ص۷۸. ظفیر

([3]) الحاضنة یسقط حقها بنکاح غیر محرمه ای الصغیر (الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب الحضانة =

چي ناني نه وي نو نانا ته دپرورش حق نسته: **سوال**: (۱۲۴۲) دزید بي بي وفات سوه دوې انجوني يوه ددولسو کالو او يوه داتو کالو دي، زيد ددوی په ښه ډول سره پرورش کوي، دانجونو خور واده سوي او اکا، داکا ښځه، او دپلار پلار موجود دي، خو دانجونو دمور پلار خپل ځان دپرورش حقدار ګڼي او دغه انجلۍ بندوي آيا دزيد په مقابله کي نيکه (نانا) ته دحضانت حق حاصل دي اوکه نه؟

جواب: دمور ښځه وروسته دپرورش حق دنابالغو انا (ناني) ته دي بيا انا (دادي) ته بيا خور ته الخ نوکه چيري ناني، دادي دنابالغو هيڅوک نسته نو دپرورش حق ددوي خور ته دي نيکه (نانا) ته په دي صورت کي هيڅ حق دبندولو نسته ([1]) که چيري انا (ناني) ژوندي نه وي نو دنکاح اختيار او ولايت پلار ته دي هکذا في کتب الفقه. ([2])

هلک به داتو کالو ښځه وروسته ولي ته سپارل کيږي هيڅا ته دپرورش حق نسته: **سوال**: (۱۲۴۳) دسندرخان پلار منوخان مړ سو، ده يوه بي بي بوريجان او يو زوي سندر خان نابالغ دبوري جان دخيټي ښځه او يو زوي خان محمد خان بالغ دمخکي بي بي وفات سوی دخيتي ښځه پريښودل دغه وخت دسندرخان عمر اته کاله دي او دده مور بوريجان بد چلنده ده نو ددوی دپرورش حق سندرخان ته حاصل دي اوکه نه؟

جواب: په دي صورت کي دسندرخان دمنوخان دزوي دحضانت حق دده مور بوريجان ته نسته ځکه چه اول خو ددي عمر اتو کالو ته رسيدلي دي په دي حالت کي هيچاته هم دحضانت حق ددي باقي پاته نه سو او بوريجان ته دبد چلنی وغيره په وجه دسندرخان دحضانت حق په دې حالت کي هم باقي نه پاته کيږي اګر چه سندر خان دحضانت لائق وي لکه څه رنګه چه ددرمختار عبارت په دي باندي صراحتًا دلالت کوي: الا ان تكون مرتدةً او فاجرةً فجوراً يضيع الخ نواوس سند رخان به خپل ولي ته سپارل کيږي چه په موجوده صورت کي دده علاتي ورور خان محمد خان دي لکه څه رنګه چه په شامي کي دي: واذا استغنى الغلام الخ فالعصبية اولى الاقرب فالاقرب الخ ([3]) او ددي ښځه مخکي دا عبارت مذکور دي: واذا استغنى الغلام عن الخدمت اجبر الاب او الوصى او الولى على اخذه ([4]) او داستغناء موده داووه کالو عمر دی کمافی الدر المختار وقدر بسبع الخ. ([5])

= ج۲ ص۸۸۰ ط.س. ج۳ ص۵۲۵). ظفير

([1]) ثم ای بعدالام الخ ام الام الخ ثم ام الاب الخ ثم الاخت لاب وام الخ ثم الخالات الخ ثم العمات (الدر المختار على هامش ردالمحتار باب الحضانة ج۲ ص۸۷۷ – ۸۷۸. ط. س. ج۳ ص۵۲۲ – ۵۲۳) ظفير

([2]) الولى فى النكاح العصبة بنفسه (ايضاً باب الولى ج۲ ص۴۲۷. ط. س. ج۳ ص۷۸). ظفير

([3]) الدرالمختار على هامش ردالمحتار باب الحضانة ج۲ ص۸۷۱. ط. س ج۳ ص۵۲۲. ظفير

([4]) ردالمحتار باب الحضانة ج۲ ص۸۸۱. ط. س. ج۳ ص۵۲۲. ظفير　　([5]) ايضاً ط. س. ج ۳ ص۵۲۲. ظفير

په بچيانو باندي شيدې ښيښل دپلار په ذمه دي: **سوال**: (۱۲۴۴) بچيانو ته شيدي ورکول دوالدينو څخه پرچا باندي فرض دي که هغه غريب وي که امير؟

جواب: شيدې ورکول دپلار په ذمه دي يعني که چيري مورورباندي شيدي نه ښيښي نو پلار به بله يوه مرضعه ورمقرر کړي چه هغه يې دمور سره اوسيږي اوشيدی ورکوي ليکن که چيري پلار غريب وي او دمور هيڅ عذر نسته نو دمور پرذمه بچي ته شيدي ورکول ضروري دي. (۱)

دمور څخه وروسته دپرورش حق انا (ناني) ته دي: **سوال**: (۱۲۴۵) دمور څخه وروسته انا (ناني) ته دنابالغو دحضانت اختيار سته که بل رشته دارته؟

جواب: دحضانت حق دمور څخه وروسته ناني (انا) ته دي. (۲)

دانجلۍ تر بلوغ پورې دپرورش حق دي: **سوال**: (۱۲۴۶) دانجلۍ دحائضه کيدو څخه مخکي او چه کله انجلۍ دخپلي انا (يعني دمور دمور) سره اوسيدل غواړي چه کمي انا ددي پرورش وکی او چاته چي ددغه انجلۍ دحضانت اختيار وي په دي صورت کي دغه انجلۍ يو سړي رشته دار بعيد چه مجرد وي او دانجلۍ نامحرم وي نو دغه سړي دغه انجلۍ ددي دانا څخه آيا اخيستی سي اوکه نه؟

جواب: دحضانت حق دانجلۍ تر حائضه کيدو پورې انا ته دي ليري رشته دار که څه هم چه هغه دنکاح ولي وي دانا څخه هغه نه سي اخيستي. (۳)

دتيرې سوی زماني نفقه انا (ناني) دولي څخه نه سي اخستي: **سوال**: (۱۲۴۷) که چيري دانجلۍ دحضانت زمانه ختمه سوی وي او دانجلۍ ولي دانجلۍ دهغه ښځي څخه چه دچا په حضانت کي هغه اوسيږي اخيستل غواړي نو آيا دغه زنانه دپرورش خرچه چه ددي په پرورش کي خرڅ سوی ده ددغه سړي څخه چه په خپله قبضه کي يې اخلي اخيستل درست دي اوکه نه؟

جواب: دتيرې سوی زماني خرچه دانا (ناني) وغيره څخه چه چاته دحضانت حق دي دولي عصبه نه سي اخستی. (۴)

---

(۱) ثم الحضانة تثبت للام الخ ولا تجبر من لها الحضانة عليها الا اذا تعينت لها ولم ياخذ ثدی غيرها او لم يکن للاب ولا للصغير مال به يفتی (الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب الحضانة ج۲. ط. س. ج۳ ص۵۵۹ – ۵۵۵). ظ

(۲) ثم بعد الام بان ماتت او لم تقبل الخ ام الام وان علت (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب الحضانت ج۲ ص۸۷۷ – ۸۷۸. ط. س. ج۳ ص۵۲۲). ظفير

(۳) ثم بعدالام الخ ام الام الخ والحاضنة الخ احق به الخ والام والجدة لام ولاب الخ احق بها ای بالصغيرة حتی تحيض ای تبلغ فی ظاهر الرواية (الدرالمختار علی هامش رد المحتار باب الحضانة ج۲ ص۸۷۷ – ۸۸۱. ط. س. ج۳ ص۵۲۳ – ۵۲۲). ظفير　=

دبالغيدو ځخه مخکي انجلۍ دمور ځخه نه سي جدا کيدي: **سوال**: (۱۲۴۸) انجلۍ دحائضه کيدو ځخه مخکي دانجلۍ درضامندي ځخه بغير دانا ځخه يې ځوك جدا کولي سي اوکه نه؟ **جواب**: نه ! (۱). فقط

دپرورش دحق موده: **سوال**: (۱۲۴۹) لورته او ددي مورته اوکه مور نه وي نو انا (ناني) ته دحضانت حق ترکمي مودي پوري دي او دلور دپلار داکا زوي لور ددي دانا ځخه په زور سره داخيستلو مجاز دي اوکه نه؟

جواب: مور ته او ددي ځخه وروسته انا (ناني) ته دانجلۍ حق حضانت ددغه انجلۍ تر حائضه کيدو پورې دي يعني تر بلوغ پورې دي او دنابالغ دنکاح ولايت عصباتو ته دي علي ترتيب الارث والحجب، اوکه ځوك ولي محرم دانجلۍ نه وي بلکه غير محرم وي نو انجلۍ دحق دحضانت دپوره کيدو ځخه وروسته ده ته به نه سي سپارل کيدي بلکه دچا سره چي ده مثلاً انا وغيره سره هغې سره به پريښودل کيږي په درمختارکي دي: والام والجدة لام او اب احق بها اى بالصغيرة حتى تحيض اى تبلغ فى ظاهر الرواية الخ وفى ردالمحتار وفى الخلاصة وغيرها واذا استغنى الغلام وبلغت الجارية فالعصبة اولى يقدم الاقرب فالاقرب ولا حق لابن العم فى حضانة الجارية اھ قلت بقى ما اذا انتهت الحضانة ولم يوجد عصبة ولا وصى فالظاهر انه يترك عند الحاضنة الخ (۲) وفيه ايضًا وبتعليلهم بان ابن العم غير محرم وانه لا حق لغير المحرم.

دمور ځخه وروسته انا (ناني) ته بيا انا (دادي) ته دپرورش حق سته: **سوال**: (۱۲۵۰) دزيد وفات وسو او دزيد درې انجوني کم عمره دزيد دکونډې بي بي هنده دخيتي ځخه دهندي سره موجود دي دزيد دوفات ځخه دوه کاله وروسته هندي دبچيانو دنامحرم سره دويمه نکاح وکړه نو دحضانت حق دانجونو ددوي انا ته دي که علاتي خور ته او ترور (عمه) ته چه علاتي خور او ترور (عمه) دانجونو ذمه داري صرف پرخپل ځان پورته کړي.

جواب: قال فى الدر المختار ثم اى بعد الام الخ ام الام الخ ثم ام الاب الخ ثم الاخت لاب و لام ثم لام ثم لاب (۳) الخ وفى الشامى ارادت ام امه تربيته باجر وام ابيه ترضى بذالك

(۴) والنفقة لا تصير دينا الا بالقضاء او الرضاء اى اصطلاحهما على فلا معين اصنافا الخ (الدر المختار على هامش ردالمحتار باب النفقة ج۲ ص۹۰۲. ط. س. ج۳ ص۵۹۴). ظفير

(۱) فان لم تكن له ام فام الام اولى من ام الاب والام والجدة لام او لاب احق بالجارية حتى تحيض (هدايه باب حضانة الولد ج۲ ص۴۱۳ – ۴۱۴). ظفير

(۲) ردالمحتار باب الحضانة ج۲ ص۸۸۱. ط. س. ج۳ ص۵۲۲. ظفير

(۳) الدر المختار على هامش ردالمحتار باب الحضانة ج۲ ص۸۷۷ – ۸۷۸. ط. س. ج۳ ص۵۲۲ – ۵۲۳. ظفير

مجانا فاجبت بانه يدفع للمتبرعة الخ (۱) ص۲۳۵ ددرمختار دروايت ځخه معلومه سوه چه دناني او دادي ځخه وروسته دخور حق دي او دشامي دروايت ځخه معلومه سوه چه په دوي کي ځوك مفت پرورش وکړي هغه احق دي لهذا په صورت مذکوره کي انجوني به دعلاتي خور او ترور (عمه) سره پريښودل کيږي چه دانجونو مالي نقصان ونه سي.

دنابالغ دپرورش حق: **سوال**: (۱۲۵۱) زيد مړ سو ده يوه بي بي او درى انجوني پريښودى ديوي عمر دوه نيم کاله دى دپرورش حق دچا دي؟

جواب: دپرورش حق اول ددي دمور دي بيا دانا (ناني) بيا دانا (دادي) او بيا دخويندو حق دي. (۲)

دبلوغ ځخه وروسته دولي حواله: **سوال**: (۱۲۵۲) ددي انجلۍ مال به په بالغ کيدو باندي دي ته ورکول کيږي اوکه به ځه کول کيږي؟

جواب: په بالغ کيدو باندي به هم دي ته ورکول کيږي. (۳)

دپرورش حق: **سوال**: (۱۲۵۳) دپرورش خرڅ دچا پرذمه دي او ځومره او ترځومره مودې پورى دى؟

جواب: که چيري خپله ددغه انجلۍ مال موجود وي نو ددغه مال ځخه به ددغه انجلۍ خرچه اخيستل کيږي اوکه چيري ددي سره نه وي يعني ددي پلار هيڅ نه وي پرې اينبي نو دمور وغيره پر ذمه دي، او ترتيب ددي دفقهی په کتابونو کي مذکور دي قاعده کليه دا ده چه دچا پرذمه ددوي نفقه ده دهغه پرذمه دپرورش خرڅ دي اودحضانت موده دمذکر دپاره اووه کاله دي او دمؤنث دپاره بلوغ يعني دحيض راتلل دي. (۴)

---

(۱) ردالمحتار باب الحضانة ج۲ ص۸۷۴. ط. س. ج۳ ص۵۵۸. ظفير

(۲) احق الناس بحضانة الصغير حال قيام النكاح او بعد النكاح او بعد الفرقة الام الخ وان لم تكن له ام تستحق الحضانة الخ فام الام اولى من كل واحدة الخ فان لم يكن للام ام فام الاب اولى ممن سواها الخ فان ماتت الخ فالاخت لاب وام (عالمگيرى مصرى كتاب الطلاق الباب السادس عشر فى الحضانة ج۱ ص۴۸۲. ط. ماجديه ج۱ ص۵۴۱). ظفير

(۳) نفقة الاولاد الصغار على الاب لا يشاركه فيها احد الخ ارضاع المغير اذا يوجد من ترضعه انما يجب على الاب اذا لم يكن للصغير مال واما اذا كان له مال فتكون مئونة الرضاع فى مال الصغير كذا فى المحيط الخ ونفقة الصبى بعد انعطام اذا كان له مال فى ماله الخ وان كان الاب زمنا وليس للصغير مال يقضى بالنفقة على الجد ولا يرجع الجد بذلك على احد (عالمگيرى مصرى كتاب الطلاق الباب السابع عشر فى النفقات فصل رابع ج۱ ص۴۹۲ - ۴۹۸. ط. ماجديه ج۱ ص۵۲۰ - ۵۲۱). ظفير

(۴) والام والجدة احق بالغلام حتى يستغنى وقدر بسبع سنين وقال القدورى حتى ياكل ويشرب وحده ويستنجى وحده وقدره ابوبكر الرازى بتسع سنين والفتوٰى على الاول واللام والجدة احق بالجارية حتى تحيض (عالمگيرى مصرى كتاب الطلاق الباب السادس فى الحضانة ج۱ ص۴۸۳، ط. ماجديه ج۱ ص۵۴۲). ظفير

دبچي ولي به څوک وي؟ **سوال**: (۱۲۵۴) دپرورش څخه وروسته ولي به څوك وي؟
جواب: ولي عصبات وي علي ترتيب الارث والحجب كما في الدرالمختار نو په دي صورت كي كه چيري نيكه وغيره موجود نه وي نو اكا ولي دي. ([1])
دنابالغو دپرورش حق چاته دي؟ **سوال**: (۱۲۵۵) زيد وفات سو څلور هلكان او دوې انجوني يې پريښودل په هغوی كي يو هلك او بالغي انجوني دمخكني مېرمني ښځي څخه دي او درې هلكان نابالغ ددويمي بي بي موجوده ښځه دي دنابالغو دپرورش حق او دجايداد محافظ او امين څوك دي؟
جواب: دنا بالغو دحضانت حق يعني دپرورش حق په دي صورت كي ددوي مور ته دي ([2]) او دنابالغو دنكاح ولي ددوي علاتي ورور دي چه بالغ دی ([3]) او دنابالغو دجايداد حصه وغيره هغه به ددوي دمور سره ايښودل كيږي. فقط
په خاله اواكا كي دپرورش حق دچا دي؟ **سوال**: (۱۲۵۶) ديوي نابالغې انجلۍ مور او پلار مړه سوي دي صرف ترور (خاله) او اكا موجود دي په دي صورت كي دحضانت حق چاته دي؟
جواب: په دي صورت كي دنابالغې دحضانت حق ترور (خاله) ته دي ([4]) او دنكاح ولي ددي اكا دي كذا في الدرالمختار ([5]). فقط
دپرورش حق مور ته دي او دولايت حق عصباتو ته: **سوال**: (۱۲۵۷) زيد داولي بي بي مرحومه څخه دوې انجوني او يو بالغ هلك او ددويمي بي بي موجوده ښځه دده نابالغ هلكان پريښودل مړ سو ددرو واړو نابالغو دپرورش حق او دجايداد او دنكاح ولي څوك دي؟
جواب: دنابالغو دپرورش حق ددغه بچيانو مور ته دي او دنكاح ولايت عصباتو ته دی لهذا په دي صورت كي كه چيري نيكه ددغه نابالغو موجود نه وي نو ددوی دنكاح ولي

([1]) الولي في النكاح لا المال العصبة بنفسه الخ علي ترتيب الارث والحجب الخ فان لم يكن عصبة فالولاية للام (در مختار) قوله فيقدم ابن المجنونة الخ ثم يقدم الأب ثم ابوه ثم الاخ الشقيق ثم الاب الخ ثم ابن الاخ ثم ابن الاخ الشقيق ثم الاب ثم العم الشقيق ثم الاب ثم ابنه (ردالمحتار باب الولي ج۲ ص۴۲۷ – ۴۲۸). ظفير
([2]) اذا وقعت الفرقة بين الزوجين فالام احق بالولد (هدايه باب حضانة الولدج ۲ ص۴۱۳). ظفير
([3]) الولي في النكاح العصبة بنفسه الخ علي ترتيب الارث والحجب (الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب الولي ج۲ ص۴۲۷. ط. س. ج۳ ص۷۸). ظفير
([4]) ثم الخالات اولي من العمات ترجيحا لقرابة الام (هدايه باب حضانة الولد ومن احق ج۲ ص۴۱۳). ظفير
([5]) الولي في النكاح الخ العصبة بنفسه الخ علي ترتيب الإرث والحجب (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب الولي ج۲ ص۴۲۷. ط. س. ج۳ ص۷۲). ظفير

ددوی علاتي ورور دي او دجايداد ولايت ورور ته نسته په دي صورت کي حاکمان چه څوك منتظم مقرر کړي هغه به انتظام کوي. [1]

دپرورش حق انا (ناني) ته دي او دنکاح ولايت دمشر اکا بي بي (تايا) ته دي: **سوال:** (۱۲۵۸) يوه انجلۍ تخمينًا ديوولسو کالو په عمر دخپلي حقيقي انا (ناني) سره اوسيږي ددي وجي څخه چه ددي والدين مړه سوی دي البته ددغه انجلۍ دمشر اکا ښځه (تايا) ژوندي ده په دي صورت کي دپرورش حق دمذکوري انجلۍ او دنکاح ولايت چاته دي؟

جواب: په دي صورت کي دانجلۍ دپرورش حق ددي انا (ناني) ته دي ترحيض راتلو پوری يعني تر بلوغ پوری دا به دانا سره اوسيږي او دمشر اکا ښځه (تايا) يی نه سي اخيستي ([2]) البته ولايت او دنابالغي دنکاح اختيار ددي دمشر اکا بي بي ته دي چه ددي څخه ډير نژدي هيڅ عصبه موجود نه وي ([3]) او دا ولايت اواختيار دانجلۍ تر عدم بلوغ پوري دي او دبالغيدو څخه وروسته دهيڅ يو ولي جبر پردي باندي نه سي کيدي خپله دبالغي انجلۍ په رضا او اجازت سره ددي نکاح کيدی سي ([4]).

په ترور (عمه) او تايا (ښځي داکا) کي دپرورش حق چاته دي؟ **سوال:** (۱۲۵۹) يو هلك ديونيم کال په عمر دي دده والدين وفات سوی دي اوس په وارثانو کي جګړه ده دهلك ترور (عمه) وايی چه هلك او مال ماته رسيدل پکار دي او داکا ښځه يې وايی چه ماته رسيدل پکار دي دهلك اکا، دمشر اکا ښځه هيڅوك ژوندي نه دي ترور (عمه) او دعمه زوی او داکا ښځه يې ژوندي دي مال او هلك به دچا سره اوسيږي؟

جواب: په دي صورت کي ددغه هلك دپرورش حق دده ترور (عمه) ته دی داکا ښځي او دعمه زوی ته هيڅ حق دعمه په مقابله کي نسته ددي وجي په درمختار کي دخاله څخه وروسته دعمه حق يی ليکلي دي: ثم الخالات الخ ثم العمات كذالك الخ. ([5])

([1]) الولی فی النکاح لا المال العصبة بنفسه الخ علی ترتيب الارث والحجب (درمختار) لا المال فان الولی فيه الاب ووصيه والجد ووصيه والقاضی ونائبه فقط (رد المحتار باب الولی ج۲ ص۴۲. ط. س. ج۳ ص۷۲). ظفير

([2]) ثم ای بعد الام بان ماتت الخ ام الام الخ والام والجدة لام او لاب احق بها للصغيرة حتی تحيض ای تبلغ فی ظاهر الرواية (در مختار) وبلوغها اما بالحيض او الانزال او السن ط (ردالمحتار باب الحضانة ج۲ ص۸۷۷ – ۸۸۱. ط. س. ج۳ ص۵۲۲ – ۵۲۳). ظفير

([3]) الولی فی النکاح الخ العصبة بنفسه الخ علی ترتيب الارث والحجب (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب الولی ج۲ ص۴۲۷. ط. س. ج۳ ص۷۲). ظفير

([4]) لا تجبر البالغة البكر علی النکاح لا نقطاع الولاية بالبلوغ (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب الولی ج۲ ص ۱۰. ط. س. ج۳ ص۵۸). ظفير

([5]) الدرالمختار علی هامش رد المحتار باب الحضانة ج۲ ص۸۷۸ ط. س. ج۳ ص۵۲۳. ظفير

دپرورش حق مورته دي: **سوال:** (۱۲۲۰) دزید سره یوه بي نکاح ښځه موجوده ده دغه زنانه چه کم وخت زید ته راغله نو دځان سره یې یو هلك داتو کالو راوستی زید دغه انجلۍ او هلك دخپل ځان سره وساتل او پرورش یې وکړی دغه هلك چه کله بالغ سو نو دهغه نکاح یې دهندي سره وکړو دهندي دخېټې څخه دوه هلکان وسول دیوه عمر څلورکاله او ددویم شپږ کاله دي دوه کاله وسول چه دهندي خاوند مړ سو، زید دمسماة څخه چه څومره قدر زیورات اوکپړي اوکور وغیره سامان وو دوفات په ورځ باندي یې په زبردستی سره ورڅخه واخیستل مسماة په میکه کي ولاړه او ددي پلار ددي او ددي ددواړو وړو بچیانو پرورش کوي دغه زنانه دخپل خاوند سره دزید څخه جلا اوسیده او زیورات، دکور مال اومتاع ټول مکسوبه دزوج مسماة وو اوس زید په عدالت کي دعوه کړیده چه دواړه ماشومان دي ماته راکول سي زه ددوي پرورش کوم عدالت دغه مقدمه جرګې ته وسپارله جرګه والو دا ولیکل چه په دې صورت کي دي دواړه بچي ماشومان زید ته ورنکړل سي بلکه هغوی به دمور سره اوسیږي ځکه چه په نور الهدایه ترجمه اردو شرح وقایه جلد ۲ باب الحضانت کي په ص۳۰۴ کي دي چه دتربیت حقدار اول مور ده پردي به جبر نه سي کیدي اگر چه په دي کي اوپه خاوند کي یې تفریق راسي یعني طلاق ورلره ورکړي ددي وجي څخه چه روایت دي دعبد الله بن عمر ﷺ څخه چه یوي زنانه وویل یا رسول الله دا زما زوي وو خېټه زما دده لوښي سینه زما دده مشك، غیږ زما دده کور ده، دده پلار ماته طلاق راکړی اوغواړي چه دی زما څخه واخلي نو نبي ﷺ وفرمایل دیته چه ته ډیره زیاته حقداره یې دده دساتلو چه تر څو پوری نکاح ونه کړی روایت کړي دی دا ابوداود احمد اوحاکم او صحیح یې ورته ویلي دي او ددي وجي چه دمور شفقت زیات دي نو دیته ورکول به ښه وي ابوبکر ﷺ ورنکړی عمر ته بلکه حواله یې کی هغه دده مور ته دجدایي دواقع کیدو په وخت روایت کړي دي دا امام مالك او نور یې هم زیادت نقل کړي دي په بیهقي کي چه وویل ابوبکر ﷺ چه ما دنبي کریم ﷺ څخه اوریدلي دي چه فرمایل یې چه بچي به دمور څخه نه سي جدا کولي اوپه مصنَّف ابن ابي شیبة کي دي چه عمر ﷺ جمیله بنت عاصم بن ابي الافلح ته طلاق ورکړی نو هغی نکاح وکړه نو عمر ﷺ راغی او خپل زوي یې واخیستی نومور یې دی ونیوی تر دې پوري چه مرافعه وکړه دواړو دابوبکر ﷺ په مخکي نو ابوبکر ﷺ وفرمایل چه ددي هلك مور پریږده او داهلك هم نو دغه هلك خپلي مور واخیستی او دمصنف په یوه روایت کي دي چه ابوبکر ﷺ وفرمایل چه ګوتي وروړل ده ته دمور، غیږ ددې، او بوی ددې هم بهتر دي دده دپاره ترتا تر دي پوري چه ځوان سي نو هلك ته اختیار ورکړي

دخپل نفس، انتهی. اوپه مجموعة الفتاوی جلد ۳ ص۸۱ کي مولانا عبدالحی ددي سوال په جواب کي چه عصباتو لره دحضانت حق سته اوکه نه؟ ليکي: کله چه مور يا خاله يا مور يا ددوي په شان نه وي يا داچي ددوي دعذر په حق کي ساقط سي نو عصباتوته کيداي سي ورکړل سي په عالمگيريه کي راځي: اذا وجب الانتزاع من النساء اولم يكن للصبى امرأة من اهله يدفع الى العصبة انتهى (1) او ددي سوال په جواب کي چي دمور او خور په موجوديت کي انا ته دحضانت حق رسيږي اوکه نه؟ ليکي: فی الدرالمختار ثم ای بعد الام بان ماتت اولم تقبل او اسقطت حقها او تزوجت باجنبی اما للام وان علت عند عدم اهلية القربٰى ثم ام الاب وان علت انتهى (2) او دهمدي کتاب په جلد ۳ ص۸۱ دحضانت په باب کي دي: **سوال**: دحضانت حق چه مور ته دی په کم عذر ساقطيږي؟ **جواب**: په دي عذر چه مرتده سي يا فاجره وي په زنا يا غنا يا غلا يا نياحة يا ددي په شان نور گناهونه کوي او پرورش دبچي نه کوي اکثر وختونه دکور څخه بهر ته وزي يا دا چه بغير دمحرم دلور څخه نکاح وکړي په درمختارکي دي: والحضانة تثبت للام ولو بعد الفرقة الا ان تكون مرتدة او فاجرة فجوراً يضيع الولد به كزنا وغنا وسرقة ونياحة كذا فى البحر او غير مامونة ذكره فى المجتبى بان تخرج كل وقت وتترك الولد فمايعًا او متزوجة بغير محرم الصغير انتهى، (3) پربناء باندي صغير ماشوم به دمور په پرورش کي اوسيږي، دا فيصله ددوی صحيح ده که نه؟

جواب: په دي کي شك نسته چي دحضانت حق اول مورته دي بيا انا (د مورمور) ته دي بيا انا (دپلار مور) ته دي او په دي ترتيب تر آخره پوري او دهلکانو دپرورش حق مور او نورو ته تر اوو کلونو پوري دي او دجينی دپرورش حق مور او انا ته تر بالغه کيدو پوري دظاهر الرواية موافق ترنهه کاله پوري (4) بهر حال په مذکوره موده کي ددواړو بچيانو دپرورش حق مورته دي اوکه چيري پلار ددغه بچيانو نه وي نو زيد ته هيڅ دولايت حق نسته حق دنابالغو هم نسته نو فيصله دجرگي چه دمور دحضانت دحق متعلق وسوه صحيح او دشريعت موافق ده او ددغه معتبرو کتابونو عبارت سره دترجمي خپله دجرگي والا په فيصله کي درج دي او دهيڅ عبارت دليکلو ضرورت نسته. فقط

(1) عالمگيری مصری باب الحضانة ج۱ ص۵۴۲. ط. ماجديه ج۱ ص۵۴۲. ظفير

(2) الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب الحضانة ج۲ ص۸۷۷. ط. س. ج۳ ص۵۲۲ - ۵۲۳. ظفير

(3) ايضاً ج۲ ص۸۷۱. ط. س. ج۳ ص۵۲۲. ظفير

(4) الحضانة تثبت للام ولو بعد الفرقة الخ ثم ای بعد الام بان ماتت الخ ام الام ثم ام الاب الخ والام والجدة احق بها ای بالصغيرة حتی تحيض ای تبلغ فی ظاهر الرواية الخ وغيرهما حق بها حتی تشتهی وقدر بتسع وبه يفتی وعن محمد ان الحكم فی الام والجدة كذالك وبه يفتی (ايضاً ج۲ ص۸۸۱). ظفير

په صورت مسئوله کي دپرورش حق انا (دادي) ته دي: سوال: (۱۲۲۱) هنده مړه سوه او دهغی ځلور بچي دي هر بچی يې داوو کالو څخه کم دي ددغه بچيانو نانا (نيکه) او نيکه (دادا) انا (دادي) او خاله (ترور) او ترور (عمه) او پلار موجود دي په دي صورت کي ځوك دغه بحي ساتلي سي؟

جواب: دحضانت حق انا (دادي) ته دي (۱) او دنکاح ولايت پلار ته دي (۲). فقط

دپروش څه موده ده اود دي څخه وروسته څه حکم دي؟ سوال: (۱۲۲۲) دپرورش موده ځومره ده او ځومره موده وروسته پلار خپل بچي اخستي سي؟

جواب: دپرورش حق په هلك کي اووه کاله دي اوپه انجلۍ کي ترحيض راتلو پوري او دمذکوره مودی څخه وروسته پلار خپل بچي اخستي سي: والحاضنة احق بالغلام حتی يستغنی عن النساء وقدر بسبع وبه يفتی وبالصغيرة حتی تحيض فی ظاهر الرواية (۳) درمختار.

مور چه کله فاجره وي نو هغې ته دپرورش حق نه حاصليږي: سوال: (۱۲۲۳) زما دورور شپږ کاله وسول چه وفات سوی دي او هغه خپله لور چه دهغې عمر ځلورکاله وو خپل مشر ورور او کشری خور ته سپارلي ده دوه نيم کاله وسول چه مشر ورور هم وفات سو ددي څخه وروسته دغه انجلۍ زما دکشري خور په سپارنه کي پاته سوه دا وخت انجلۍ زما سره ده چه ددي عمر لسو کالو ته رسيدلي دي زما دوريندارې يعني دانجلۍ دمور يو زوی دزنا څخه پيدا سوی دي په دې وقت کی دانجلۍ ترور دانجلۍ ولي کيدي سي او که نه؟

جواب: په درمختار کي دي که چيري مور مرتده سي يا زانيه سي يا غيرمأمون وي نو ددي دپرورش حق ساقطيږي او ددې څخه وروسته چه دچا حق دي دهغه سره به بچی پاته کيږي نوپه دي صورت کي چه دترور (عمه) څخه ماسوا دمور څخه وروسته بل ځوك حقدار نسته نو بيا ترور ته دپرورش حق ثابت سو دانجلۍ تربلوغ کيدو پوری ترور (عمه) ددي نکاح هم کولي سي او چه کله انجلۍ بالغه سي نو ددي په اجازت سره ترور (عمه) ددي نکاح هم کولي سي په درالمختار کي دي: الا ان تکون مرتدةً او فاجرةً فجوراً

---

(۱) ثم ای بعد الام الخ ام الام الخ ثم ام الاب وان علت (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب الحضانة ج۲ ص۸۷۷. ط. س. ج۳ ص۵۶۲ – ۵۶۳). ظفير

(۲) الولی فی النکاح العصبة بنفسه بلا توسط انثی علی تريتب الارث والحجب (ايضاً باب الولی ج۲ ص۴۲۷. ط. س. ج۳ ص۷۶) ظفير

(۳) الدر المختار علی هامش رد المحتار باب الحضانة ج۲ ص۸۸۱. ط. س. ج۳ ص۵۶۶. ظفير

يضيع الولد به كزناء الخ او غير مامونة الخ (۱). فقط

دپرورش دحق ترتيب: **سوال**: (۱۲۲۴) دنابالغي دپرورش حق دمور څخه وروسته اول انا (ناني) ته دي كه خور ته او په ولايت دنكاح كي دچا درجه مخكي ده؟

جواب: ثم اى بعد الام الخ ام الام الخ ثم ام الاب الخ ثم الاخت درمختار (۲) ددي عبارت څخه معلومه سوه چه دپرورش حق په نابالغه كي دمور څخه وروسته دانا (ناني) حق دخور څخه مقدم دي او دنابالغي په ولايت دنكاح كي انا (ناني) مقدمه ده: واولادهم الام ثم الجدة ثم الاخت لاب وام الخ شامى (۳) باب الولى. فقط

څه رنګه ماحول چه وي دمور څخه وروسته انا ته (ناني) ته دپرورش حق سته: **سوال**: (۱۲۲۵) زما زوي عبد القادر چه دهغه عمر دري نيم كاله دي څه وخت او څلور مياشتى وسوي چه دده مور وفات سوه دي دخپل نيكه (نانا) او انا (ناني) سره مقيم دي دغه ځاي دده تربيت داسلام څخه خلاف په ښكنځلو او لغوياتو سره كيږي ليكن دده نيكه (نانا) او انا (ناني) ماته دى نه راكوي نو دشريعت په لحاظ سره هغه هم په دې حالت كي پريښودل كيږي اوكه داسلام دتربيت دپاره يې كوشش وكړل سي او دهغوي څخه واخيستل سي؟

جواب: ستا دزوي عبد القادر سلمه مور چونكه وفات سوى ده نو په موجوده حالت كي دده دپرورش حق دده انا (ناني) ته دي اووه كاله دى ساتلي سي ددې څخه وروسته تاسو يى اخستي سى او دخپل ځان سره يى ساتلي سي او هر قسم تعليم ورته شروع كولى سي دا عمر داسي دي كه چيري دهغه ځاي دمجلس څخه په هلك كي بد اثرات څه نا څه هم پيدا سي نو ددغه اثراتو ازاله ژر كيدي سي هكذا في كتب الفقه (۴). فقط

نهه كاله وروسته هلک پلار دده دمور څخه اخستي سي: **سوال**: (۱۲۲۲) يو سړي خپلي بي بي ته طلاق وركړى ددي يو زوي كم عمره وو چه دهغه عمر داوو كلونو څخه كم وو، څه وخت وروسته ښځي دويمه نكاح وكړه دبچي دغير محرم سره او دبچي عمر هم نهه كاله سو نو دښځي څخه دبچي مطالبه دده پلار وكړه ليكن دده مور وركول نه غواړي په دي صورت كي دپلار په موجودګی كي بل څوك غوره كيدي سي اوكه نه؟

---

(۱) الدر المختار على هامش ردالمحتار باب ثبوت النسب ج۲ ص۸۷۲. ط. س. ج۳ ص۵۵۲. ظفير

(۲) ايضاً ج۲ ص۸۸۱. ط. س. ج۳ ص۵۲۲ - ۵۲۳. ظفير

(۳) ردالمحتار باب الولى ج۲ ص۴۲۹. ط. س. ج۳ ص۷۸. ظفير

(۴) ثم اى بعد الام بان ماتت الخ ام الام الخ والحاضنة اما او غيرها احق به اى بالغلام حتى يستغنى عن النساء وقدر بسبع وبه يفتى (الدر المختار على هامش ردالمحتار باب الحضانة ج۲ ص۸۷۷ - ۸۸۱. ط. س. ج۳ ص۵۲۲ - ۵۲۳). ظفير

جواب: دهلك دپرورش حق مور وغیره ته داوو کالو تر عمره پوري کیدي سي ددي څخه وروسته دوي ته هیڅ حق نه پاته کیږي کما فی الدر المختار والحاضنة اما او غیرها احق به ای بالغلام حتٰی یستغنی عن النساء وقدر بسبع وبه یفتی ([۱]) او دمور دپرورش حق دبچي دغیر محرم سره په نکاح کولو سره ساقطیږي والحاضنة یسقط حقها بنکاح غیر محرمة الخ درمختار. ([۲]) لهذا په دي صورت کي په هیڅ طریقه مور، انا (ناني) نیکه (نانا) وغیره ته ددغه هلك دبندولو هیڅ حق نسته پلار دي اخیستي سي او پلار دده په هره طریقه حقدار دي او دپلار په موجودګی کي بل یو ولي ډیر نژدي ددغه هلك نسته.

دمور څخه وروسته دپرورش حق انا (ناني) ته داووه کالو تر عمر پوري دي: **سوال**: (۱۲۲۷) زما ددویمي بي بي انتقال سوی دي یو بچی چه دهغه عمر تقریبًا پنځه کاله دي دخپل نیکه (نانا) سره دي دده بهوپال ته په روانګي کي اصرار دي آیا زما په مقابله کي دده ولي نیکه یا ماما کیدی سي؟

جواب: ددغه نابالغ هلك مال او دنکاح ولایت تاسو ته دی او دپرورش حق داوو کالو ترعمر پوري دمور څخه وروسته اول انا (ناني) ته ددې څخه وروسته انا (دادی) ته ددې څخه وروسته خویندو ته دي نوکه چیري انا (ناني) دبچي موجوده ده او هغه دی په خپل پرورش کي ساتل غواړي نو تاسو داوو کالو په عمر کیدو باندي دی اخستی سی اوکه چیري دبچي انا (ناني) موجوده نه وي نو دپرورش حق دمذکوره بچي دده انا او خویندو ته دی. ([۳]) دده په حضانت کي نیکه (نانا) او ماما ته دپرورش حق نسته بلکه دنیکه (نانا) أو ماما درجه دپرورش په حق کي دپلار وغیره دعصباتو څخه وروسته ده او پرورش کوونکي هلك تاسو په اجازت سره بهوپال ته بیولي سئ.

اتلسم باب : باب النفقة

دخرڅ او خوراک سره متعلق احکام او مسائل

دخاوند دخوښی په خلاف چه کله بي بي دمور اوپلار کره لاړه نو دنفقي حق نه پاته کیږي:

سوال: (۱۲۲۸) دیوي زنانه په خیټه کي بچي مړ سو دډاکټر په ذریعه را وایستل سو چه دهغه دنقصان په وجه یي دواړه مقامات (قُبُل او دُبُر) یوسول دسړي دکار څخه ووتله ده

([۱]) الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب الحضانة ج۲ ص۸۸۱. ط. س. ج۳ ص۵۶۲. ظفیر

([۲]) ایضاً ج۲ ص۸۸۰. ط. س. ج۳ ص۵۶۵. ظفیر

([۳]) ثم ای بعد الام بأن ماتت الخ اما الام الخ ثم ام الاب الخ ثم الاخت لاب وام ثم لام الخ والحاضنة اما او غیرها احق به ای بالغلام حتی یستغنی عن النساء وقدر بسبع وبه یفتی (الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب الحضانة ج۲ ص۸۷۷ – ۸۸۱. ط. س. ج۳ ص۵۶۲ – ۵۶۳). ظفیر

دویمه نکاح وکړه ددغي دویمي ښځي سره يې هم جګړه وکړه او تنګه يې کړه بيا يې خپل او دغه دويمي ښځي ټول زيورات واخيستل دخپل پلار کور ته ولاړه او ددې څخه انکار کوي چه ما نه دي راوړي اوس خاوند ته دا خيال دي که چيري طلاق ورکړم نو هيڅ يو سړي به ددي سره نکاح ونه کړي دا خيال يې دي چه ديته ددې دپلار په کورکي خرڅ ورکړي، دا څنګه دی؟

جواب: چي دغه ښځه دخاوند دخوښي په خلاف دخپل پلار کورته ولاړه دده څخه نفقه ددې ساقطه سوه که هلته په اوسيدو سره خاوند ورله نفقه ورنکړي نو ګناهګار نه دي اوکه چيري يې ورکړي نو دا دخاوند تبرع او احسان دي ګناه يې هيڅ نسته (۱). فقط

دتيرو سوو کلونو داخراجاتو اداېکي پرخاوند باندي واجب نه ده: **سوال**: (۱۲۶۹) زيد خپله بي بي په خسرګني کي ساتله او ټول خرڅ ددي مور او پلار کوی زيد کله هم ورته څه نه دي ورکړي اوس ددي مور او پلار دده څخه خرڅه اخستي سي اوکه نه؟

جواب: مذکوره بالا اخراجات چه دزيد مور او پلار په خپلي لور باندي خرڅ کړل ددي دمطالبي حق ددي مور او پلار ته نسته قال فی الدرالمختار والنفقة لا يصير دينًا الا بالقضاء او الرضاء الخ. (۲)

خاوند چه نفقه بنده کړي نو څه به کول کيږي؟ **سوال**: (۱۲۷۰) خاوند دناراضګی په وجه دخپلي بي بي نفقه بنده کړه نو څه کول په کار دي؟

جواب: په شريعت کي ددي علاج دا دي چه خاوند به مجبوره کړل سي چه يا ورله نفقه ورکړي يا ورله طلاق ورکړي (۳). فقط

بيبياني دمکان حق لري، بهتر کيدل يې ضروري نه دي: **سوال**: (۱۲۷۱) ديو سړي دوې بيبياني دي او هري يوي بي بي ته يې يو يو مکان جدا جدا ورکړی اوس څه وخت وروسته يوه بي بي مکان بدلول غواړي ځکه چه ديوي سره دوه چته والا خونه ده او ددويمي سره کچه خونه ده اوس آيا دخاوند مکان بدلول ضروري دی اوکه نه اوکه چيري بدله يې نه کړي نو څه ګناه خو نسته؟

جواب: په دې کي پرخاوندباندي هيڅ ګناه نسته دسکونت حق ددواړوبيبيانو اداسو اواوس

---

(۱) ولا نفقة لاحد عشر الى ان قال وخارجة من بيته بغير حق وهى الناشزة حتى تعود (الدر المختار على هامش رد المحتار باب النفقه ج۲ ص۸۹۰. ط. س. ج۳ ص۵۷۵ - ۵۷۶). ظفير

(۲) ايضاً ج۲ ص۹۰۶. ط. س. ج۳ ص۵۹۵. ظفير

(۳) ويجب (الطلاق) لو فات الامساك بالمعروف (الدر المختار على هامش ردالمحتار كتاب الطلاق ج۲ ص۵۷۲. ط. س. ج۳ ص۲۲۹). ظفير

ددویمي بي بي دبدلولو هیڅ حق نسته. ([1])

دخسر څخه دعدت دنفقي مطالبه صحیح نه ده: **سوال**: (۱۲۷۲) (م) خاوند (ز) په خپل ژوند کي دخپل پلار سره اوسیدل اوس د(م) دوفات څخه وروسته (ز) دخپل خسر څخه دخپل عدت دزماني دنفقي او مهر مطالبه کولي سي او که نه؟ او د(م) دوفات څخه وروسته د (ز) هلك پیدا سو او پینځلس میاشتي ژوندي وو بیا وفات سو دده دپنځلسو میاشتو خرچه اخستي سي اوکه نه؟

جواب: د (م) منکوحه دخپل خسر څخه دعدت وغیره دنفقي مطالبه نه سي کولي، ([2]) که چیري (م) څه میراث مملوکه خپل پریښودلي وي نو مهر ددغه ترکه شوهري څخه اخستي سي او دخپل میراث حصه او دخپل زوي دطرف څخه چه څه دیته ورسیدل هغه اخیستي سي. فقط

خاوند چه بی بی وباسي نو ددي نفقه پرده باندي واجب ده: **سوال**: (۱۲۷۳) که چیري خاوند خپله ښځه دکور څخه وباسي او طلب یی نه کړي نفقه یې پرخاوند باندي واجب ده اوکه نه؟ اوکه چیري ښځه دخپلو حقوقو دصحیح نه ادا کیدو په وجه دخپل خاوند څخه طلاق وغواړي ګنهګاریږي اوکه نه؟

جواب: که خاوند خپله ښځه دکور څخه وباسي او طلب یی نه کړي نو نفقه دخاوند پرذمه واجب ده اوکه ښځه دخپلو حقوقو دصحیح نه ادا کیدو په وجه طلاق وغواړي نو ګنهګاره نه ده او پرخاوند واجب ده چه دښځي دحقوقو دنه ادا کیدو په صورت کي طلاق ورکړي ([3]). فقط

دنفقي او دجهیز دسامان حکم: **سوال**: (۱۲۷۴) زید خپله بي بي هنده دیوازي والي په وجه دشپږو کالو څخه په خپله خوښه دمور اوپلار په کور کي پریښوده او دیوي میاشتي نان او نفقه یی ورکړه او وي ویل چه همیشه به یې دغه رنګه درکوم لیکن ددي څخه وروسته ده څه ورنکړل او اوس ده طلاق ورکړی نو اوس هنده دخپل مهر او نان او نفقي دمور او پلار په کورکي داوسیدو دمودې او ددې څخه وروسته دعدت دزمانې نان اونفقه او دجهیز سامان وغیره چه مور اوپلار ورته ورکړي وو دبیرته اخیستومستحقه ده اوکه نه؟

([1]) وعلى الزوج ان يسكنها فى دار مفردة ليس فيها احد من اهله (هدايه باب النفقة ج۲ ص۴۲۱). ظفير

([2]) النفقة واجبة للزوجة على زوجها مسلمة كانت او كافرة اذا سلمت نفسها الى منزله فعليه نفقتها به يفتى وكسوتها وسكناها (ايضاً ج۲ ص۴۱۷). ظفير

([3]) تجب للزوجة على زوجها (النفقه) الى قوله ولو هى فى بيت ابيهما اذا لم يطالبها الزوج بالنقلة به يفتى وكذا اذا طالبها ولم تمتع او امتعت للمهر (الدرالمختارعلى هامش ردالمحتار باب النفقه ج۲ ص۸۸۲. ط. س. ج۳ ص۵۷۲). ظفير الدين مفتاحي غفر له

جواب: په دي صورت کي هنده دخپل مهر او نفقي دمور او پلار په کورکي داوسيدو دمودی اود عدت دنفقي داخستلو حقداره ده دخاوند څخه ددي داخستلو مطالبه کولي سي ([1]) او دجهيز سامان چه دمور اوپلار څخه ورلره ورکول سوی دي هغه ددي ملکيت دي هغه هم اخستي سي هکذا في کتب الفقه. ([2])

دزوجه متوفي عنها دعدت نفقه: **سوال**: (۱۲۷۵) ښځه دمتوفي دزوی په عدت کي ده ددي دعدت اخراجات دچا پر ذ مه باندي دي آيا دخاوند دپلار پرذمه دي که چيري دخاوند پلار څه دښځه په صرف کي خرڅ کړي نو دبي بي دحقوقو څخه مجرا کيدي سي اوکه نه؟

جواب: دهيڅا پرذمه نه دي ځکه چه خاوند خو مړسو دده پرذمه دعدت نفقه نسته او دخاوند دپلار پرذمه دا اخراجات نسته پلار چه څه خرڅ کړي هغه تبرع ده مجرا نه سي کيدی. ([3])

دمړ کيدونکي هلک ولي څوک دي؟ **سوال**: (۱۲۷۶) متوفي دشپږو کالو يو زوي پريښودی دده ولي څوک دي او دپرورش حق دچا دي؟

جواب: ددغه بچي ولي دده نيکه دي او دپرورش حق دده مور ته دی. ([4])

زيد دخرڅ او خوراک ضمانت واخيستي نو دنفقي دده څخه مستحق دي اوکه نه؟ **سوال**: (۱۲۷۷) زيد دبکر دزوی سره دعمر دلور نکاح په دي معاهده باندي وکړه چه ته دخپلي لور نکاح ددغه هلك سره وکړه او دهيڅ خبري خطره مه کوه زه ددي دخرڅ، خوراك او دمهر ذمه دار يم اوس هلك خپله بي بي دعمر په کورکي پريښوولي ده اوخرڅ اوخوراك نه ورکوي اونه يي راغواړي په دي صورت کي دزيد څخه چه ضامن دي دنفقي اودهر دعوی کيدی سي اوکه نه؟

جواب: دزيد ضامن څخه دنفقي او مهر مطالبه شرعًا کيدي سي: ولا يطالب الاب بمهر ابنه الصغير الفقير الا اذا ضمنه على المعتمد كما فى النفقة الخ ([5]) وفى الشامى اداء ضمان الولى الكبير منهما فظاهر لانه كالاجنبى الخ شامى. فقط

دمطلقه ثلثه نفقه دخاوند پرذمه واجب ده: **سوال**: (۱۲۷۸) دمطلقه ثلثه دعدت نفقه دخاوند

([1]) ويجب (الطلاق) لوفات الامساك بالمعروف (الدر المختار على هامش ردالمحتار كتاب الطلاق ج۲ ص۵۷۲. ط. س. ج۳ ص۲۲۹). ظفير

([2]) وجهزا ابنته بجهاز وسلمها ذلك ما ليس له الاسترداد منها ولا لورثته بعده الخ (الدر المختار على هامش ردالمحتار ج۲ ص۵۰۳. ط. س. ج۳ ص۱۵۵). ظفير

([3]) ولا نفقة للمتوفى عنها زوجها (هداية ج۲ ص۴۲۲). ظفير

([4]) واذا وقعت الفرقة بين الزوجين فالام احق بالولد (هدايه ج۲ ص۴۱۳). ظفير

([5]) الدر المختار باب المهر ج۲ ص۴۹۱ على هامش ردالمحتار ط. س. ج۳ ص۱۴۱. ظفير

پرذمه واجبه ده که نه؟

جواب: واجبه ده [۱]. فقط

داولاد پرورش او واده دپلار پرذمه دي که نه؟ **سوال:** (۱۲۷۹) داولاد واده او پرورش او تعليم دپلار پر ذمه ضروري دي که نه خصوصًا چه کله داولاد سره مال نه وي؟

جواب: دپلار پرذمه داولاد نفقه هغه وخت ده چه داولاد سره مال نه وی اوکه چيري داولاد سره مال وي نو داولاد دمال څخه دي په ده باندي خرڅ کړي. [۲]

دمطلقي عدت اودهغي نفقه: **سوال:** (۱۲۸۰) دمطلقي دعدت دوخت نفقه پرخپل خاوند باندي سته اوکه نه؟ اوکه مطلقه ځوانه وي دعدت موده يې حيض ده، که تر درو څلورو کالو پوري وايي چي تر اوسه پوري دري حيضه له ما څخه منقضي سوی نه دي ددي په خبره دي اعتماد وسي اوکه نه؟ او دذکر سوی مودي نفقه پرخاوند لازمه ده اوکه نه؟

جواب: وتجب لمطلقة الرجعی والبائن النفقة الخ و لو ادعت امتداد الطهر فلها النفقة الخ [۳] نو معلومه سوه چه دمطلقي نفقه دعدت تر ختميدو پوري واجبه ده او دطهر تر امتداد پوري دمطلقي قول معتبر دي الا ان يقيم الزوج البينة علی اقرارها بانقضاء العدة او تبلغ هی سن الایاس بعد ثلثة اشهر کما فی الشامی.

دصغير نفقه: **سوال:** (۱۲۸۱) دماشوم نفقه چه دوه کاله عمر يې دي دپلار څخه به اخستل کيږي اوکه نه؟ اودحضانت موده څه ده؟

جواب: دماشوم نفقة دپلار پر ذمه ده. [۴]

دمطلقي دعدت نفقه دخاوند پرذمه ده: **سوال:** (۱۲۸۲) زنانه حامله ده دبچي پيدا کيدو څخه وروسته دده خرڅ او خوراك پر خاوند باندي لازم دي اوکه نه؟

جواب: دمطلقي نفقه په عدت کي پرخاوند باندي لازمه ده او دبچي پر پيدا کيدو باندي دبچي نفقه دپلار پر ذمه لازمه ده. [۵]

---

[۱] واذا طلق الرجل امرأته فلها النفقة والسکنی فی عدتها رجعيا او بائناً (الی قولی) سمعت رسول الله ﷺ يقول للمطلقة الثلث النفقة والسکنی مادامت فی العدة (هدايه ج۲ ص۴۲۱). ظفير

[۲] وتجب النفقة بانواعها علی الحر لطفله يعم الانثی الجمع الفقير الحر فان النفقة المملوك علی مالکه والغنی فی ماله الحاضر (درمختار) الفقير ای ان لم يبلغ حد الکسب الخ (ردالمحتار باب النفقه مطلب الصغير والمکتسب نفقة فی کسبه ج۲ ص۹۲۳. ط. س. ج۳ ص۲۱۲). ظفير

[۳] الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب النفقة ج۲ ص۹۲۱. ط. س. ج۳ ص۲۰۹. ظفير

[۴] وتجب النفقة بانواعها علی الحر لطفله يعم الانثی والجمع (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب النفقه ج۲ ص ۹۲۳) والام والجدة احق بالغلام (الی قوله) والخصاف فدر الاستغناء بسبع سنين اعتبارا للغالب (هدايه ج۲ ص، ۴۱. ط. س ج۳ ص۲۱۲). ظفير

[۵] اذا طلق الرجل امراته فلها النفقه والسکنی فی عدتها رجعيا کان او بائنا (هدايه ج۲ ص۴۲۱) و نفقة الاولاد =

بي بي دخاوند سره په سفر باندي دتللو څخه انکار وکي نو دنفقي څه حکم دي؟ سوال: (۱۲۸۳) ښځه دخپل خاوند سره په سفر باندي دتگ څخه انکار کوي که چيري خاوند نفقه بنده کړي نو څه حکم دي؟

جواب: په درمختارکي دي: او ابت الذهاب اليه او السفر معه او مع اجنبی بعثه ماينقلها فلها النفقة (۱) ددي عبارت څخه معلومه سوه چه په صورت مسئوله کي دښځي نفقه دخاوند پرذمه لازمه ده په نفقه نه ورکولو باندي خاوند گناه کاريږي. فقط

دسکني په سلسله کي دښځي حق: سوال: (۱۲۸۴) زيد دين دمهر ټول معجَّل خپلي بي بي ته ادا کړی مسمات هنده دزوجيت حقوق نه ادا کوي اودخاوند کور ته دراتلو څخه انکار کوي په دي صورت کي زيد هنده خپله بي بي په خپل کور کي سکونت پذير کړه دزوجيت دحقوقو ادا کولو شرعًا مستحق دي اوکه نه؟

جواب: زيد ته بي شکه دا حق دي چه خپله بي بي په جدا کورکي وساتي او دبي بي پرذمه دده اطاعت اودخاوند حق ادا کول لازم دي (۲) که نه نو دغه ښځه ناشزه اونافرمانه ده فقهاء دا ليکي که چيري بي بي وجهي دخاوند کورته نه ځي نو نفقه ددي دخاوند پرذمه نسته. (۳) فقط

بغير دڅه وجي دخاوند کورته ښځه نه ځي نو دا شرعًا نافرمانه ده: سوال: (۱۲۸۵) يو سړي په ثبتِ اقرارنامه په دي الفاظو خپل واده کوي چه زه به دخپل خسر سره اوسيږم که چيري څه قسم ناچاقي وسي نو سرای به په دغه محله کي په کرايه باندي اخلم او اوسيږم به ددغه واده دري کاله وسول يو هلك هم ددوو کالو په عمر موجود دي اوس دزوم او خسر تر مينځ داسي جگړه پيدا سوه چه گزاره گرانه ده په دي غرض زوم کور پريښوی دباندي مجبوره سو او آينده په دي محله کي اوسيدل نه غواړي په بله محله کي يی سرای په کرايه باندي اخيستي دي انجلۍ دغه سرای ته دتگ څخه انکار کوي په دي صورت کي انجلۍ دخاوند څخه دخرڅ او خوراك اخيستو مستحقه ده اوکه نه؟ او هلك دخپلي مور سره دی.

جواب: که چيري ښځه دغه سرای ته بلا وجه نه ځي نو دا نافرمانه ده او دخاونـد څخه به

= 　الصغار علی الاب لا يشارکه فيها احد الخ (هدايه ج۲ ص۴۲۳). ظفير

(۱) الدرالمختار باب النفقه ج۱ ص۲۲۷. ط. س. ج۳ ص۵۹۴. ظفير

(۲) قال رسول الله ﷺ اذا الرجل دعا زوجته لحاجة فلتاته وان کانت علي التنور (مشکوة ص۴۸۱). ظفير

(۳) لا نفقة لاحد عشر مرتدة الخ وخارجة من بيته بغير حق وهی الناشزة حتی تعود (الدرالمختار علی هامش رد المحتار ج۲ ص۸۸۲. ط. س. ج۳ ص۵۷۵). ظفير

دنفقه اخيستو مستحقه نه وي هكذا في الدر المختار (۱) وغيره او هلك به دمور سره اوسيږي. (۲) فقط

<u>دبچي او بي بي نفقه دخاوند پرذمه لازمه ده</u>: سوال: (۱۲۸۲) زيد دخپلي بي بي هندي مهر ادا كړي او هنده يې والدينو ته ورسوله دهنده سره يو كوچني بچي دي زيد نه ددي پرووش كوي او نه هنده ته خرڅ او خوراك وركوي دزوجيت هيڅ حق يې نه ادا كوي اوپه كوركي دساتلو څخه يې انكار كوي او طلاق هم نه وركوي په دي صورت كي دهندي دتيرو وختونو څه صورت كيدي سي؟

جواب: دحاكم په مخكي دي دعوي وكړي خرڅ او خوراك دي مقرر كړي يا دي هغه طلاق وركړي يا دي نفقه وركړي دشريعت دا حكم دي چه حاكم به خاوند ته په زبردستي سره نفقه حواله كړي. (۳)

<u>دعدت په ورځوكي چه كله زنانه دخاوند دكور څخه بغير دڅه وجي ووزي نو دعدت دنفقي مستحقه نه ده</u>: سوال: (۱۲۸۷) زوجه دخاوند دوفات څخه وروسته په څلورمه ورځ دخاوند مكان چه دخپل خاوند سره په كم ځاي كي اوسيده اوكم ځاي چي ددي خاوند وفات سوی وو پريښووی دخپل ورور كره ولاړه او دعدت ورځي يې دخاوند په كور كي تيري نه كړي په داسي حالت كي دخاوند دميراث څخه دا دخرڅ او خوراك استحقاق ترختميدو دعدت پوري لري اوكه نه؟

جواب: دخاوند دوفات څخه وروسته دزنانه نفقه دخاوند پرذمه نه ده كه هغه ووزي اوكه ونه وزي نو دخاوند دميراث څخه دعدت نفقه به زنانه ته نه وركول كيږي، في الدر المختار لا تجب بانواعها لمعتدة موت الخ. (۴)

<u>دوالدينو نفقه داولاد پرذمه ده</u>: سوال: (۱۲۸۸) دزيد دوه هلكان دي زيد خپلو هلكانو ته وايي چه ته دخپلي گټي څخه زما برخه جلا كړه شرعًا زيد او دده بي بي كمزوري او نادار دي دزامنو دمال څخه څه حصه دزيد اودده دبي بي سته اوكه نه؟ هلكان وايي چه موږ په

---

(۱) لا نفقة خارجة من بيته بغير حق وهى الناشزة مختصرا (الدرالمختار على هامش ردالمحتار باب النفقة ج۲ ص۸۸۹. ط. س. ج۳ ص۵۷۶). ظفير

(۲) تربية الولد ثثبت للام النسبية ولو بعد الفرقة الا ان يكون مرتدة او فاجرة الخ او متزوجة بغير محرم الصغير (ايضا باب الحضانة ج۲ ص ۸۷۱ ط س. ج۳ ص۵۵۵ - ۵۵۲). ظفير

(۳) فتجب للزوجة بنكاح صحيح الخ على زوجها الخ (الدر المختار على هامش رد المحتار باب النفقة ج۲ ص۸۸۲. ط. س. ج۳ ص۵۷۳) ويجب (الطلاق) لوفات الامساك بالمعروف (ايضاً كتاب الطلاق ج۲ ص۵۷۲. ط. س. ج۳ ص۲۲۹). ظفير

(۴) الدرالمختار على هامش ردالمحتار باب النفقة مطلب فى نفقة المطلقة. ط. س. ج۳ ص۶۱۵. ظفير

خپل طاقت او متہو سره گټلي دي ستا زمونږ په ګټه کي هيڅ حصه نسته څه حکم دي؟

جواب: مور او پلار چه کله محتاج او نادار وي ددوي نفقه داولاد پرذمه واجبه ده ددواړو پرذمه دمور او پلار خرڅ لازمي دي دحاجت په اندازه دپوښاك او خوراك دپاره دي دوي ته ورکړي او هيڅ حصه دنفقي څخه علاوه لازمه نه ده: وتجب على موسر الخ النفقة لاصوله الفقراء الخ ملخصًا، درمختار. (۱) فقط

چه ترڅو پوري نکاح باقي وي بي بي ته دنفقي حق حاصل دي: **سوال**: (۱۲۸۹) زيد دڅلورو کلونو راهيسي افريقي ته تللي دي خپله منکوحه بي بي يې پريښوده تردريو کلونو پوري ده دخپلي منکوحي خبر هم وانه خستی ناچاري دوکيل په وسيله دخرڅ او خوراك دپاره نوټس يعني تنبيه ورکړه نو ده دوه سوه روپی را وليږلي اوس اوريدل کيږي چه هغه هلته په شراب خوارى کي مشغول دي اويوه زنانه يې هم بغير دنکاح ساتلي ده او هغه وايی چه ما وطن کله پيژندلي هم نه دي اونه هغه اوس خرچه ورکوي نه يې ابادوي اونه يې پريږدي په داسي صورت کي دزنانه دپاره څه پکار دي؟

جواب: اقول وبالله التوفيق مذهب حنفي په دي باره کي دا دي چه دطلاق ورکولو څخه بغير ښځه دخاوند دنکاح څخه نه خارجيږي دنفقي دپاره دي دحاکمانو طرف ته رجوع وکړي او حاکمان دي خاوند مجبوره کړي چه دزنانه خبر واخلي او نفقه ورکړي کنه نو طلاق دي ورکړي خپله حاکم تفريق نه سي کولي قال في الدرالمختار: ولا يفرق بينهما بعجزه عنها بانواعها الثلاثة ولا بعدم ايفائه لو غائباً حقها ولو موسراً وجوزه الشافعی باعسار الزوج وبتقررها بغيبة ولوقضٰى به حنفى لم ينفذ الخ والتحقيق فى الشامى. (۲) فقط

بي بي دخپل خاوند کورته دراتلو څخه دمنع کولو حق نه لري: **سوال**: (۱۲۹۰) که چيري بي بي خپل خاوند ته دالله تعالي واسطه ورکړي او ورته ووايی چه ته زما خوا ته رانه سی يا دي کورته مه راځه حالانکه کورددي دخاوندوي نوپه داسي حالت کي شرعًاڅه حکم دي؟

جواب: بي بي ته دا حق نسته چه خپل خاوند کورته دراتلو څخه راوګرځوي او منع يې کړي، اونه هم زوج ته په دې باره کي دښځي خبره منل لازمي دي، زنانه ته هيڅ اختيار نسته چه هغه دالله تعالي واسطه ورکړي اوداسي ووايی او ددي دا وينا درسته نه ده. (۳)

---

(۱) الدرالمختار على هامش ردالمحتار باب النفقه ج۲ ص۹۳۱ – ۹۳۳، ط. س. ج۳ ص۶۱۲. ظفير

(۲) الدر المختار على هامش ردالمحتار باب العنين وغيره ج۲ ص۹۰۳. ط. س. ج۳ ص۵۹۰، صاحب د "حيله ناجزه" حضرت تهانوي دحالاتو څخه دمجبوره کيدو له امله لاره پيدا کړيده تفصيل يې دهغه په رساله (الحيلة الناجزة) کي وګوري، والله اعلم. ظفير

(۳) قال رسول الله ﷺ المرأة اذا صلت خمسها وصامت شهرها واحصنت فرجها واطاعت بعلها فلتدخل من ای =

دنکاح کولو څخه وروسته خبر نه اخیستل: **سوال**: (۹۲۹۱) یو سړی نکاح وکړه او بیایی دخپلي بي بي خبر وانخستی چه ددي دري کاله تیر سول اوس څه حکم دي؟

جواب: چه ترڅو پوري خاوند طلاق ورنکړي نو دده پرښځه باندي طلاق نه واقع کیږي دطلاق څخه بغیر او دعدت دتیریدو څخه وروسته دویمه نکاح نه سي کولي پکار دي چه دخرڅ اوخوراك په ده باندي دعوه وکړل سي یادده څخه طلاق واخیستل سي. [1] فقط

دمطلقي زناني دعدت ختمیدو څخه وروسته نفقه دخاوند پرذمه نه ده: **سوال**: (۱۲۹۲) دزید بي بي دنالش په ذریعه دزید څخه تر ژونده پوري دخپل خرڅ او خوراك رجسټري وکړه بیا یو څو ورځي وروسته زید خپلي بي بي ته طلاق ورکی او ددي مور اوپلار ته یی هم درجسټري په ذریعه اطلاع ورکړه اوس دعدت دختمیدو څخه وروسته زید بي بي ته پوره طلاق ورکړی یعني رجعت یی ونه کړی بلکه بالکل یی وایسته او خرڅ او خوراك یی بند کړی اوس بي بي دخرڅ او خوراك نالش کړی دي اوس ددي امر په باره کي سوال دي چه په شریعت کي دطلاق او دعدت دختمیدو څخه وروسته خرڅ او خوراك پرخاوند فرض دي که نه؟

جواب: دزوج نفقه دزوج پر ذمه دنکاح په حالت کي او دطلاق دعدت ترختمیدو پوري لازمه ده ددې څخه وروسته نفقه واجبه نه پاته کیږي قال فی الدرالمختار فتجب للزوجة علی زوجها الخ وفیه ایضًا وتجب لمطلقة الرجعی والبائن والفرقة بلا معصیة النفقة والسکنی الخ [2]. فقط

مطلقه چه کله دخپل پلار کورته ولاړه سي نو دعدت نفقه نسته: **سوال**: (۱۲۹۳) یو سړي خپلي بي بي ته دری ځله طلاق ورکړی او زنانه دخپل خاوند په کورکي پاته نه سوه دخپل مور او پلار کور ته ولاړه اوس هغه دعدت نفقه طلب کوي آیا هغه دنفقي مستحقه ده که نه؟

جواب: که ښځه مطلقه دخاوند دکور څخه ولاړه سي او عدت هلته پوره نه کړي نو نفقه ددي دخاوند پرذمه لازمه نه ده کذا في الشامي. [3]

= ابواب الجنة تشاءت رواه ابو نعیم فی الحلیه (مشکوة باب عشرة النساء ص۲۸۱). ظفیر

[1] پردي شخص باندي هم واجب دي چي یا حقوق اداء کړي که نه یې سي ادا کولي طلاق دي ورکړي: ویجب لو فات الامساك بالمعروف (الدر المختار علی هامش ردالمحتار کتاب الطلاق ج۲ ص۵۷۲. ط. س. ج۳ ص۲۲۹). ظفیر

[2] ایضاً باب النفقه ج۲ ص۹۲۱. ط. س. ج۳ ص۵۷۲. ظفیر

[3] وتجب لمطلقة الرجعي والبائن النفقة والسکنی والکسوة (درمختار) وفی المجتبی نفقة العدة کنفقة النکاح وفی الذخیرة وتسقط بالنشوز وتعود بالعود واطلق فشمل الحامل وغیرها والبائن بثلاث (ردالمحتار باب النفقة ج۲ ص۹۲۱. ط. س. ج۳ ص۲۰۹). ظفیر

که بغير دطلاق ښځه خاوند دبي بي دجرم دوجي ښځه جدايي اختيار کړي نو هم نفقه واجبه ده: **سوال**: (۱۲۹۴) زيد دخپلي بي بي سره يو سړي په جماع کولو وليدی او زيد دخپلي منکوحي ښځه يو طرفته سو او دنفقې ښځه هم دست بردار سو چه ددي يو کال کيږي آيا په داسي صورت کي به هم زيد مهر او نفقه ورکوي او دخلوت صحيحه ښځه وروسته آيا يو داسي صورت هم سته چه مهر دسړي دذمې ښځه ساقط سي؟

جواب: په دي صورت کي دزيد پرذمه مهر او نفقه لازمه ده ځکه چه دخلوت صحيحه ښځه وروسته مهر دخاوند پر ذمه لازم او مؤکد کيږي کما فی الدر المختار ويتاكد عند وطی او خلوة صحت الخ (۱). فقط

ددويم واده ښځه خسر هم منع نه سي کولي اونه په کورکي دناستي انجلۍ نفقه اخستي سي: **سوال**: (۱۲۹۵) ديو سړي واده ديوي انجلۍ سره وسو لږ وخت وروسته چه هيڅ قسم تعلق نه وو پيدا سوی انجلۍ په يوه عارضه کي مبتلا سوه چه مخ يې بالکل مسخ سو چه دليدلو ښځه يې هم طبيعت نفرت کوي هر څومره علاج وکړل سو ليکن څه افاقه ونه سوه دهلك مور اوپلار غواړي چه دهلك دپاره بل واده وکړي ليکن دانجلۍ والدين وايي چه موږ دی بل واده ته نه پريږدو چه ترڅو پوري يې دانجلۍ دخوراك او څښاك ماهانه رقم نه وي مقرر کړي او هغه به جلا اوسيږي ستاسو خواته به نه درځي ليکن رقم ادا کول ستا پرذمه دي او دهلك مور او پلار په سلګونو ځله انجلۍ خپل کور ته را وبلله ليکن هغه دراتلو ښځه انکار کوي، په صورت مذکوره کي دانجلۍ والدينوته دخاوند دنکاح ښځه دمانع کيدو حق سته که نه او خاوند طلاق ورکولي سي که نه؟

جواب: دبي بي والدينو ته دخاوند دبلي نکاح ښځه دمنع کولو شرعاً هيڅ حق نسته اوپه صورت مسئوله کي چونکه دخاوند والدين دمجبوری او ضرورت په وجه دخپل زوی بل واده کول غواړي نو په موجوده حالت کي خاوند دبل واده ښځه منع کول سخت ظلم اوګناه ده او دښځي ماهانه نفقه مقرر کول باوجود ددي چه ښځه دخپل خاوند کور ته نه ځي او هلته نه اوسيږي دا هم دشريعت دحکم ښځه خلاف دي دبي بي نفقه هغه وخت لازميږي چه هغه دخاوند کور ته دتګ ښځه انکار نه کوي او دانکار کولو په صورت نفقه ساقطيږي کما فی الشامی قوله والا لا ای وان امکن نقلها الی بيت الزوج بمحنة ونحوها فلو لم تنتقل لا نفقة لها الخ شامی (۲) جلد ۲ باب النفقة، او خاوند ته طلاق ورکول هم جائز دي. فقط

(۱) الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب المهر ج۲ ص۴۵۴. ط. س. ج۳ ص۱۰۲. ظفير
(۲) ردالمحتار باب النفقه ج۲ ص۸۸۹، ط. س. ج۳ ص۵۷۵. ظفير

دبد چلني بي بي نفقه: **سوال**: (۱۲۹۶) دزيد بي بي بد چلنه ده ددي وجي زيد ددې څخه کناره کشي اختيار کړه دزيد بي بي ته چه ترڅو پوري طلاق نه وي ورکړل سوی دخرڅ او خوراك حقداره که نه؟

جواب: دنفقی حقداره ده. (۱)

دخاوند په خلاف دمور اوپلار سره په اوسيدلو باندي دنفقي مستحق نه ده: **سوال**: (۱۲۹۷) يوه زنانه دخاوند درضامندي څخه بغير دخپل والدينو سره اوسيږي او دخرڅ خوراك طلب کوي با وجود ددي چه خاوند هغه رابللي ده ليکن هغه نه ده راغلي آيا په داسي حالت کي هغه خپل خرڅ اوخوراك شرعًا غوښتلی سي او که نه؟

جواب: په داسي حالت کي زنانه دخرڅ او خوراك مستحقه نه ده چه ترڅو پوري دخاوند کورته نه وي راغلي نو نفقه به ورلره نه ورکول کيږي البته که دخاوند په اجازت هلته يعني دوالدينو په کور کي اوسيده يا دنه راتلو څه شرعي وجه او مشروع عذر وي نو بيا دغه وخت هغه نفقه غوښتلی سي. (۲)

دنافرماني بي بي نفقه پر خاوند باندي واجب نه ده: **سوال**: (۱۲۹۸) دزيد دوې بيبياني دي دمخکي بي بي څخه يې اته اولاده پنځه نارينه او دري زنانه او ددويمي بي بي څخه يې صرف يو اولاد نارينه دي مخکي بي بي انتهايی شريفه، وفاداره، خدمت گزاره، فرمانبرداره، خوش اخلاقه، نيك نفسه او نيك بخته ده او دويمه بي بي سخته بد اخلاقه، بد زبانه، بي وفا، باغي اوسرکښه ده چه دخپل خاوند دبدی بدنامي او بربادی طلبونکي او تلاش کوونکي ده او دعقد دوخت څخه تر دي وخته پوري دخاوند سره داوسيدو څخه انکاري ده اگرچه زيد پردې باندي هيڅ قسم سختي وغيره نه ده کړي ځکه چه زيد انتهايي نيك نفسه او نيك مزاجه دي ليکن ددغه بي بي عزيزانو دبد اصلاح او خپل ذاتي او خلقي او کج خلقی او سرکښی په وجه باوجود ددي چه زيد خواهش او فهمايت او نصيحت ورته وکی ليکن هغه دخپلي سرکښی او بد اخلاقي څخه واپس نه راځي او نه ورسره اوسيږي نو په داسي صورت کي ددي خرڅ او خوراك ورکول پرزيد باندي واجب دي اوکه نه؟ او آيا زيد ته ددي حق سته چه هغه خپل اولاد ددغه سرکښ او بې وفا بي بي څخه واخلي په دي معامله کي شرعًا څه حکم دي؟

---

(۱) فتجب للزوجة بنكاح صحح الخ على زوجها لانها جزاء الاحتباس (الدر المختار على هامش ردالمحتار باب النفقه ج۲ ص۸۸۲. ط. س. ج۳ ص۵۷۲). ظفير

(۲) لا نفقة لاحد عشر مرتدة الخ خارجة من بيته بغير حق وهی الناشزة حتی تعود (الدرالمختار على هامش رد المحتار باب النفقة ج۲ ص۸۸۹ - ۸۹۰. ط. س. ج۳ ص۵۷۵). ظفير

جواب: دداسي نافرمانه زنانه نفقه چه دخاوند سره نه ځي او باوجود دخاوند دطلب څخه انکار وکړي او دخاوند دحکم څخه عدول وکړي دخاوند دذمي څخه ساقطه ده لکه څه رنګه چه په درمختارکي دي: لانفقة لاحد عشر مرتدة الخ وخارجة من بيته بغير حق وهى الناشزة حتى تعود الخ (۱) او دبچي دپرورش حق مور ته تر اوو کاله پوری دي اوس که چيري ددغه هلك عمر تراوو کالو پوري سوی وي نو دده پلار دی دده دمور څخه اخيستي سي (۲) او چه تر څو پوري هلك دمورسره اوسيږي نو ددي خرچه به پلار ورکوي په دي شرط چه ددغه هلك په ملك کي هيڅ مال نه وي اوکه چيري دده سره مال سته نو دده دمال څخه به دده خرچه ورکول کيږي. (۳)

چه کله دخاوند سره داوسيدو څخه انکار وکړي نو دنفقي مستحقه نه ده: سوال: (۱۲۹۹) دزيد بي بي که چيري دزيد مکان ته ولاړه نه سي يا زيد يوځاي نوکر وي هلته پاته نه سي او دخپلو والدينو په مکان کي پاته سي نو نفقه دزيد څخه اخستي سي اوکه نه؟ او زيد هغه دخپل ځان سره مکان يا نوکري ته بيولي سي اوکه نه؟

جواب: بي بي که چيري دخاوند کورته دتللو او دهغه سره دتګ کولو سره دطلبه دخاوند انکار وکړي نو نفقه ددي ساقطيږي کما فى الدر المختار ولو هى فى بيت ابيها إذا لم يطالبها الزوج بالنقلة به يفتى (۴) ليکن ددې څخه وروسته په درمختار کي وايي که چيري په سفر باندي دخاوند سره دتګ څخه انکار وکړي نو نفقه به ددي ساقطه نه وي: بخلاف ما اذا خرجت من بيت العصب او ابت الذهاب اليه او السفر معه الخ (درمختار) اى بناءًا على المفتى به من انه ليس له السير بها لفساد الزمان فامتناعه بحق الخ شامي جلد ۲. (۵) فقط

بي بي چي دځان دبيري دوجي کله دخاوند سره نه اوسيږي نو هم به نفقه ورکول کيږي:

سوال: (۱۳۰۰) چه کله دزيد بي بي ته دزيد سره په اوسيدوکي دخپل ځان بيره ده نو بي بي دخپل خاوند څخه جلا اوسيدي سي او خرڅ او خوراك اخستي سي اوکه نه؟

جواب: داسي دمجبوری او بيري په حالت کي زنانه دخپل خاوند څخه نفقه په کور کي په

---

(۱) الدر المختار على هامش ردالمحتار باب النفقة ج۲ ص۸۸۹ – ۸۹۰. ط. س. ج۳ ص۵۷۵. ظفير

(۲) والحاضنة اما او غيرها احق به اى بالغلام حتى يستغنى عن النساء وقدر بسبع وبه يفتى (ايضاً باب الحضانة ج۲ ص۸۸۱. ط. س. ج۳ ص۵۲۲). ظفير

(۳) وتجب النفقة بانواعها على الحر لطفله الفقير الحر فان نفقة الملوك على مالكه والغنى فى ماله الحاضر (ايضاً باب النفقه ج۲ ص۹۲۳. ط. س. ج۳ ص۶۱۲). ظفير

(۴) الدر المختار على هامش ردالمحتار باب النفقه ج۲ ص۸۸۹. ط. س. ج۳ ص۵۷۵. ظفير

(۵) رد المحتار باب النفقه ج۲ ص۸۹۰ – ۸۹۱. ط. س. ج۳ ص۵۷۷. ظفير

ناسته اخيستي سي ځكه چه په دي حالت كي هغه ناشزه نه ده نوددي نه تګ دخپل خاوند كورته به نافرماني او نشوز نه وي كم چه دنفقي مسقط دي لكه څه رنګه چه په شامي كي دي: وسئلت عن امراة اسكنها زوجها فی بلاد الدر والملحدين ثم امتنعت وطلبت منه السكنی فی بلاد الاسلام خوفا علی دينها ويظهر لي ان لها ذالك الخ قوله او السفر معه ای بناءاً علی المفتی به من انه ليس له السفر بها لفساد الزمان فامتناعها بحق الخ (۱) ص۶۴۷. فقط

دخاوند په خوښی سره چي دمور اوپلار په كوركي هم اوسيږي نو نفقه به وركول كيږي:

سوال: (۱۳۰۱) ديو سړي نكاح ديوي ځواني زنانه سره وسوه تخليه وسوه ليكن حق يی ادا نه كی بلكه په صفا الفاظو كي يی بي بي ته وويل چه زه بيمار يم زه رنګون ته ځم خپله دوا به وكړم ډير ژر به راشم يوه هفته وروسته رنګون ته روان سو اوپه پنځو كلونو كي واپس راغی او زنانه دنكاح دزماني څخه تر دغه وخته پوري دخپل مور اوپلار په كوركي ده نو دخرڅ او خوراك مستحقه ده اوكه نه؟ او زنانه خلع غواړي نو دمهر زيور وغيره دخاوند څخه داخيستلو مستحقه ده كه نه؟

جواب: شرعًا نكاح صحيح سوه اوچونكه اوس اسلامي قاضيان نسته چه تأجيل او تفريق وكړي ددي وجي دخاوند څخه بغير دطلاق وركولو جدايی نه راځي اوكه چيري خلع كول غواړي نو دزوجينو په رضامندي سره كيدی سي، دخلعي څخه وروسته به زوجه دخپل خاوند دنكاح څخه جلا سي اوپه خلعی سره مهر وغيره ساقطيږي اوكه چيري زنانه دخپل خاوند دخوښی خلاف دخپل مور اوپلار په كوركي نه اوسيده بلكه دخاوند په خوښی او اجازت سره اوسيده نو نفقه ددي دخاوند پرذمه لازمه ده. وہٰذا كلہ فی كتب الفقہ. (۲)

تيره سوی نفقه دقاضي دقضا څخه بغير نه واجبيږي: **سوال**: (۱۳۰۲) زيد هندي ته دا الفاظ وويل چه مور دا پريښوده او زمور ددي سره هيڅ تعلق نسته كه چيري په دغه مذكوره كال كي هندي قرض اخستي وي اوپه حاجاتو ضروريه ؤ كي يی مصرف كړي وي نو دادا كولو يې څه صورت دي؟

جواب: دفقهي په كتابونو كي دي چه تيره سوی نفقه دقضا يا رضا څخه بغير دخاوند پرذمه قرض نه جوړيږي نو لهذادتيري سوی زماني نفقه به دخاوندڅخه نه سي وصولولي

---

(۱) ردالمحتار باب النفقه ج۲ ص۸۹۱ ط. س. ج۳ ص۵۷۷. ظفير

(۲) ولو هی فی بيت ابيها اذا لم يطالبها الزوج بالنقلة به يفتی وكذا اذا طالبها ولم تمتنع (درمختار) فتجب للزوجة وهذا ظاهر الرواية فتجب النفقة من حين العقد الصحيح وان لم تنتقل الی منزل الزوج اذا لم يطالبها (ردالمحتار باب النفقه ج۲ ص۸۸۹. ط. س. ج۳ ص۵۷۵). ظفير

البته که چیري هغه یې په خوشحالۍ سره ورکړي نو بیله خبره ده په درمختار کي دي:
والنفقة لا تصیر دینًا الا بالقضاء او الرضاء الخ. [۱]

دتیرو سوو څوارلسو کالو نفقه واجبیږي اوکه نه؟ **سوال**: (۱۳۰۳) دفاطمي خور ګجرا ددي خاوند کان دڅوارلسو کالو راهیسي دخپل ځان سره ونه ساتله او نه یې ورته ډوډی او کپړه ورکړه او دګجرا بار ددي مور برداشت کړی لهذا په داسي حالت کي دڅوارلسو کالو خرڅه او دمهر زر دخاوند یعني کلن څخه اخستي سي اوکه نه؟

جواب: په درمختار کي دي: والنفقة لا تصیر دینًا الا بالقضاء او الرضاء الخ [۲] ددي څخه معلومه سوه چي دتیری سوي زماني خرڅ او خوراك زنانه بغیر درضا او قضا څخه نه سي اخیستي او دمهر موجل مطالبه دطلاق څخه وروسته یا دمرګ څخه وروسته کیدي سي اوس به مطالبه دمهر دخاوند څخه نه سي کیدي.

دغائب مفقود الخبر پرذمه دبي بي نفقه: **سوال**: (۱۳۰۴) دسلیمان واده دعائشي سره وسو سلیمان دواده څخه یوه میاشت وروسته افریقي ته ولاړی چه دهغه اوه ویشت (۲۷) کاله وسول خاوند دافریقي څخه دبي بي دپاره خرڅ او خوراك او خط را ونه لیږی لیکن دخاوند په افریقه کي دژوندي کیدو یقین دي په بي بي کي افریقي ته دتګ طاقت نسته دبي بي نفقه دچا پرذمه ده او دبي بي دویمه نکاح کول په دې صورت کي درست دي اوکه نه؟

جواب: چه کله سلیمان ژوندي دي او مفقود الخبر هم نه دي نو دسلیمان څخه بغیر دطلاق ورکولو دده بي بي عائشه بله نکاح نه سي کولي او دعائشی نفقه دسلیمان پرذمه واجبه ده کما فی الدرالمختار فتجب للزوجة الخ علی زوجها الخ ولو هی فی بیت ابیها اذا لم یطالبها الزوج بالنقلة الخ به یفتی الخ [۳]. فقط

دعنین پرذمه دبي بي نفقه واجبه ده: **سوال**: (۱۳۰۵) یو عنین سړي دوکه وکړه دیوې باکره بي بي سره یې نکاح وکړه اوپه اول خلوت کي هغه لاس ونه لګوی نو زنانه ته به پرداسي سړي باندي دزوجیت حقونه حاصل وي که نه؟ یعني دده څخه هغه مهر او خرڅ او خوراك اخیستي سي او دده په وارثانو کي حصه وړلاي سي او دجداوالي په صورت کي عدت پر لازمیږي اوکه نه؟

جواب: دانکاح صحیح ده اودبي بي نفقه دخاوند پرذمه لازمه ده او دخلوت څخه وروسته

---

(۱) الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب النفقه ج۲ ص۹۰۲. ط. س. ج۳ ص۵۹۴. ظفیر
(۲) ایضاً ط. س. ج۳ ص۵۹۴. ظفیر
(۳) الدر المختار علی هامش رد المحتار باب النفقه ج۲ ص۸۸۲. ط. س. ج۳ ص۵۷۲ - ۵۷۵. ظفیر

که چیري جدایی وي نو پوره مهر دخاوند پرذمه لازم دي او عدت هم واجب دي او دخاوند دمرګ څخه وروسته به دا حصه هم وړي. (۱) فقط

دتیرو سوو کلونو نفقه واجب الادا نه سي کیدي: **سوال**: (۱۳۰۲) دمحمد اسحق یوه نابالغه انجلۍ دده دطلاقي سوي ښځي سره ولاړه تقریبًا پنځه کاله وسول دانجلۍ مور قرضه واخیسته او ددي پرورش یې وکی ددغي مودې دنفقي دخوراك خرڅ پرمحمد اسحق باندي عائد کیږي اوکه نه؟

جواب: اصل دا دي چه دماضي نفقه ساقطیږي دقضاء څخه بغیر یا درضا څخه بغیر قرض دخاوند پرذمه نه کیږي کما فی الدرالمختار والنفقة لا تصیر دینًا الا بالقضاء او الرضاء الخ (۲) نو ددي قاعدې موافق چه کله قضا یا رضا دنفقې پریو مقدار ونه سوه نو هغه ساقط سو. فقط

بغیر داجازت څخه چه کمه بي بي دمور او پلار کورته ولاړه ددې نفقه دخاوند پرذمه واجب نه ده: **سوال**: (۱۳۰۷) حامله بي بي چه دخپل خاوند دبیماری په حالت کي دخاوند داجازت څخه بغیر دخپل پلارسره دیو څو زیوراتو سره چه ددي دمهر دنیمي حصي سره قریب دي دځان سره واخیستل دخپل مور او پلار کورته ولاړه او دخاوند دمکرر سه کرر طلب کولو با وجود دخپل پلار درایی موافق دخاوند کور ته دراتلو څخه انکار کوي نو دخرڅ او خوراك اودمهر دطلب کولو حق داره ده که دبل څه؟

جواب: ددي مودی نفقه دخاوند پرذمه لازمه نه ده (۳) او مهر اګر چه موجل دي نو ددي مطالبه زنانه اوس نه سي کولي ددي وخت مرګ یا طلاق دي. فقط

مطلقه دمهر اودنفقې دعدت مستحقه ده: **سوال**: (۱۳۰۸) که چیري یوه مشرکه داسلام راوړلو څخه وروسته دیو مسلمان سره نکاح وکړي بیا مسلمان دیته طلاق ورکړي نو هغه دمهر علاوه او دښځي دخرڅ او خوراك څخه پرته دیو بل شی مستحقه کیدي سي اوکه نه؟ یا دوامي نفقه ورکولي سي؟

جواب: دغه مطلقه دمهر او دعدت دنفقې څخه علاوه دبل شي مستحقه نه ده اوکه چیري طلاق بائن وي نو دنوی نکاح څخه بغیر خاوند دا نه سي ساتلي البته په طلاق رجعي کي

---

(۱) فتجب للزوجة بنکاح صحیح الخ علی زوجها لانها جزاء الاحتباس (ایضاً ج۲ ص۸۸۲ – ۸۸۷. ط. س. ج۳ ص۵۷۲). ظفیر

(۲) الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب النفقة ج۲ ص۷۵۹. ط. س. ج۳ ص۵۹۴. ظفیر

(۳) لا نفقة لاحد عشر مرتدة الخ وخارجة من بیته بغیر حق وهی الناشزة حتی تعود (الدرالمختار علی هامش رد المحتار باب النفقه ج۲ ص۸۸۹ – ۸۹۰، ط. س. ج۳ ص۵۷۵). ظفیر

دنكاح څخه بغير په عدت كي رجوع كيدي سي او دمطلقي دپاره دعدت څخه وروسته نفقه نسته نو دوامي نفقه به دي ته شرعًا نه وركول كيږي. (١)

نافرمانه بي بي چه كله دخاوند سره اوسيږي نو دهغي نفقه ضروري ده: سوال: (١٣٠٩) دزيد بي بي نافرمانه ده دخيل خاوند درضامندی هيڅ پروا نه ساتي دتقاضا اوتاكيد باوجود دلمونځ او روژي پابندي نسته دتنبيه او ممانعت باوجود دغير محرمو په مخكي بې پردی راځي زيد تنگ سو او دويم عقد يې وكی اوس اوله بي بي دخپلو حقوقو په مطالبه حق په جانب ده او آيا دداسي نافرماني زناني چه دلمانځه او روژي پابندي ضروري نه گڼي او دخاوند دخوښی خلاف دغير محرمو په مخكي مخامخ راځي دخاوند پرذمه يې خرڅ او خوراك او عدل واجب دي اوكه نه؟

جواب: دزيد داولي بي بي دخپل خرڅ او خوراك او عدل په باره كي مطالبه حق په جانب ده ددي خرڅ او خوراك دخاوند پرذمه دی چه تر څو پوري هغه دخاوند په كوركي وي او چه تر څو پوری هغه په نافرماني كولو سره دهغه دكور څخه ونه وزي واجب ده (٢) او عدل او مساوات دهرو دواړو بيبيانو تر مينځ واجب او لازم دي. فقط

دزناكاري بي بي نفقه: سوال: (١٣١٠) زيد ديوي انجلۍ سره نكاح وكړه دده څلور مياشتي ورځي او شل وروسته يو هلك پيدا سو شرعًا دنكاح او مهر وغيره دزوجيت دحقوقو څه حكم دي؟

جواب: په دي صورت كي دزيد نكاح صحيح سوه ځكه چه دحامله عن الزنا سره نكاح منعقد كيږي ليكن كه چيري نكاح ددغه حاملي دغير زاني سره وي نو تر وضع دحمل پوری ددي وطي كول جائز نه دي نوچه كله دلا علمي په وجه وطي سوه نو دزيد هيڅ گناه ونه سوه او نكاح قائمه ده او دبي بي خرڅ او خوراك چه كله هغه دخاوند په مكان كي اوسيږي دخاوند پرذمه واجب دی (٣) او مهر دصحبت څخه وروسته پوره واجبيږي. فقط

چه تر څو پوري دخاوند سره بي بي نه اوسيږي نفقه نه واجبيږي: سوال: (١/١٣١١) دواده څخه وروسته دانجلۍ پر والدينو باندي دا فرض دي اوكه نه چه انجلۍ خپلي خسرگنی ته وليږي چه ددي خاوند دينه هيڅ تكليف نه وركوي اوكه چيري انجلۍ دخاوند خوا ته

(١) وتجب لمطلقة الرجعي والبائن الخ النفقة والسكنى والكسوة ان طالت المدة (الدر المختار على هامش رد المحتار باب النفقه ج٢ ص٩٢١. ط. س. ج٣ ص٢٠٩) واذا طلق الرجل امرأته فلها النفقة والسكنى في عدتها الخ سمعت رسول الله ﷺ يقول للمطلقة الثلث النفقة والسكنى ما دامت في العدة (هداية باب النفقه ج٢ ص٤٢٣) ظفير
(٢) النفقة واجبة للزوجة على زوجها الخ اذ سلمت نفسها الى منزله (هدايه باب النفقه ج٢ ص٤١٧). ظفير
(٣) ايضا. ظفير

نه ورځي دوالدينو سره اوسيږي نو خرڅ او خوراك ددي دخاوند پر ذمه دی اوكه نه؟ او داولاد خرڅ به دچا پر ذمه وي؟

سوال: (۲/۱۳۱۱) چه كله هنده دخپل خاوند حقوق په پوره طريقه سره نه ادا كوي نو كه چيري دزيد ځخه ځه ګناه كبيره وسي نو دالله تعالي په مخكي جواب وركوونكی به زيد وي كه دده بي بي؟

جواب (۱ – ۲) دوالدينو پرذمه دا ضروري دي او خاوند دا په زبردستی سره بيولي سي اوكه چيري ولاړه نه سي او دخاوند درضا په خلاف دخپلو والدينو سره اوسيږي نو دخاوند پر ذمه ددي خرڅ اوخوراك نسته او دعوي ددی دخپل خرڅ اوخوراك په باره كي باطله ده (۱) او داولاد خرڅ دپلار پر ذمه دی. (۲)

په نفقه كي دګرانی او ارزانی په وجه رد او بدل كول جائز دي: **سوال**: (۱۳۱۲) دنابالغو په نفقه كي دګرانی او ارزانی په وجه دپلار پرذمه كمي او بيشي كيدي سي اوكه نه يعني كه چيري حاكم يو ځل يو مقدار مقرر كړي وي نو ددي ځخه وروسته دنرخ دګرانی په وجه پردغه مقرره مقدار باندي دزيادت حكم صادريدي سي اوكه نه؟

جواب: په نفقه كي دګرانی او ارزانی په وجه كمي يا زياتي كيدي سي كما فی الدر المختار ويقدرها بقدر الغلا، والرخص الخ (در مختار) ای يراعی كل وقت او مكان لما يناسبه وفی البزازية اذا فرض القاضی النفقة ثم رخص تسقط الزيادة ولا يبطل القضاء وبالعكس لها طلب الزيادة اهـ وكذا لو صالحته علی شيء معلوم ثم غلا السعر او رخص كما سيذكره المصنف والشاح الخ شامی (۳) صالحت زوجها عن نفقة كل شهر علی دراهم ثم قالت لا تكفينی زيدت الخ درمختار (۴). فقط

دبي بي نفقه واجبه ده اودمور صاحب جايداد نفقه واجبه نه ده: **سوال**: (۱۳۱۳) دزيده په والده او اهليه كي بې حده ناچاكي ده زيد په هره طريقه باندي داتفاق كوشش وكی ليكن ناكام سو دزيد دمور دزيد ځخه علاوه بل زوی نسته او دزيد دمور سره ځه قابل جائيداد دی، زيد پريشانه دي چه په دواړو كي دده دپاره بل هيڅوك داسي نسته چه دهغه ځخه جدا وي دده تنخوا دومره نه ده چه ددي دواړو داخراجاتو جدا جدا كفيل سي كه چيري

---

(۱) لا نفقة لاحد عشر مرتدة الخ وخارجة من بيته بغير حق وهی الناشزة حتی تعود (الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب النفقه ج۲ ص۸۸۹ – ۸۹۰. ط. س. ج۳ ص۵۷۵). ظفير

(۲) والنفقة علی الاب علی ماذكر (هدايه باب حضانة الولد ج۲ ص۴۱۴). ظفير

(۳) ردالمحتار باب النفقة ج۲ ص۸۹۷. ط. س. ج۳ ص۵۸۳. ظفير

(۴) الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب النفقه ج۲ ص۹۰۵. ط. س. ج۳ ص۵۹۳. ظفير

هغه په دي دواړو کي يو نفر دخپل ځان سره يو ځاي وساتي او خرڅ ورکړي نو مأخوذ به وي که نه؟

جواب: دزيد پرذمه دده دکور والا پوره نفقه لازمه ده (۱) او دده دمور سره چه کله جائيداد او ددي په اندازه گزران موجود دي نو دزيد پر ذمه ددي خرڅ واجب نه دي (۲) هسی ددي دخوشحاله ساتلو دپاره دي څه خدمت کوي او په محبت او ادب سره دي ورته راځي. فقط

دتيرو سوو کلونو دنفقي مطالبه درسته نه ده: **سوال**: (۱۳۱۴) ديوي نابالغی انجلۍ نکاح وسوه يو څو ورځي وروسته دانجلۍ خاوند يوځای ولاړی او تر شپږو کلونو پوری مفقود الخبر پاته سو په دغه زمانه کي انجلۍ دخپلو والدينو سره پاته سوه او بالغه سوه او په خپلو متو سره يی گټله او خوړله اوس خاوند راغلي دي بي بي کورته بيول غواړي نو دشپږو کالو نفقه دده څخه اخستي سي اوکه نه؟

جواب: دفقهي په کتابونو کي دي: النفقة لا تصير دينًا الا بالقضاء او الرضاء الخ (۳) لهذا دتيري سوي زمانې نفقه دخاوند څخه نه سي اخيستي اوکه هغه يې په خوشحالی سره ورکړي نو په اخيستوکي يې هيڅ نقصان نسته. فقط

په سفر چه کمه بي بي دځان سره بونه زي دهغې نفقه هم ضروري ده: **سوال**: (۱۳۱۵) يو سړي هجرت کول غواړي دده دوه بيبياني دي ديوي نوم کوچنی او دبلي دا لويه ده دکوچنی يو کوچنی هلك ديوه کال دي دلويي يو هلك ۱۹ کاله دي او يوه انجلۍ يې ۲۷ کلنه بچياتو والا ده کوچنۍ دهجرت دپاره تياره ده دلويي زوی هجرت کول غواړي ليکن هغه لويه خپله هجرت کول نه غواړي دپوښتني ځای دا دي چه دهجرت څخه وروسته پرمهاجر باندي دلويي خرڅ او خوراك څومره قدر واجب دي؟

جواب: په درمختار کي دي بخلاف ما اذا خرجت من بيت الغصب او ابت الذهاب اليه او السفر معه او مع اجنبی بعثه لينفقها فلها النفقة الخ (۴) په شامي کي دي: قوله او مع السفر معه امر بناءًا على المفتي به من انه ليس السفر بها لفساد الزمان فامتناعها بحق (۵) الخ

---

(۱) النفقة واجبة للزوجة على زوجها الخ اذا سلمت نفسها الى بيته (هدايه باب النفقه ج۲ ص۴۱۷). ظفير

(۲) وتجب على موسر الخ النفقة لاصوله ولو اب وامه الفقراء لو قادرين على الكسب الخ بالسوية (درمختار) قوله لاصوله الا الام المتزوجة فان نفقتها على الزوج قوله الفقراء قيد به لانه لاتجب نفقه الموسر الا الزوجة (رد المحتار باب النفقه ج۲ ص۹۳۲ – ۹۳۳. ط. س. ج۳ ص۶۲۱). ظفير

(۳) الدر المختار على هامش رد المحتار باب النفقه ج۲ ص۹۰۷. ط. س. ج۳ ص۵۹۴. ظفير

(۴) ايضا ج۲ ص۸۹۰. ط. س. ج۳ ص۵۷۷. ظفير

(۵) ردالمحتار باب النفقة ج۲ ص۸۹۱. ط. س. ج۳ ص۵۷۷. ظفير

يعني دبي بي دخپل خاوند سره دا نه تلل په نافرماني او نشوز کي داخل نه دي چه دنفقي ساقط کوونکي دي نو حاصل دا دی چه دهغه بي بي نفقه چه ورسره لاړه نه سي دخاوند پر ذمه لازمه ده ددي انتظام کول خاوند لره پکار دي. فقط

دپلار دنيستوالي په صورت کي دنابالغ اولاد نفقه دمور پرذمه ده: سوال: (۱۳۱۶) دکوچنی مریمی پلار مړ سوی دي يو ورور، داکا زوي او مور موجود دي دکوچنی دنفقي کفیل څوك دي او ترکم عمره پوري دی؟ مریمه دداسي قوم انجلی ده چه دهغوی داتوکالو انجلی په خپل کسب سره ډوډی حاصلولي سي؟

جواب: دکوچني اولاد نفقه دپلار دنيستوالي په صورت کي دمور پرذمه ده په شامي کي دي: وهی اولی بالتحمل من سائر الاقارب الخ (۱) باقي ددغة کفالت نفقه ترهغه وخت پوري ده چه تر څو پوري هغه خپله څه کسب نه لري اوچه کله داوو اتوکلونو کوچنیان ددغه قوم خپله حلال کسب کوی نو ددوی نفقه به هم صرف تر دومره عمر پوري واجب وي: قال خيرالرملی لو استغنت الانثی بنحو خياطة وعزل يجب ان تکون نفقتها فی کسبها الخ شامی جلد ۲. (۲)

دنافرماني بي بي نفقه پرخاوند باندي واجب نه ده: سوال: (۱۳۱۷) هنده ديو مالدار لور ده دوالدينو په سازش سره هميشه دخپل خاوند څخه نافرمانه ده دپلار په کورکي کښينسته دپوهه کولو باوجود هم دخاوند کور ته نه ولاړه اوس دشپږو مياشتو څخه ددي خاوند ليونی سو دي په پاګل خانه کي زير علاج دي اوس هنده ددغه ليوني دورور څخه خرڅ او خوراك اخستي سي اوکه نه؟

جواب: په درمختار کي دي چه دناشزی ښځي نفقه چه دخارند دکور څخه بغير دڅه عذر شرعي څخه ولاړه سي ساقطيږي او چه تر څو پوری دخپل خاوند کور ته واپس رانه سي نو تردغه وخته پوري دنفقی مستحقه نه ده لهذا په دي صورت کي دنفقي دعوه باطله او غير مسموع ده قال فی الدر المختار: لا نفقة لاحدی عشرة مرتدة الخ وخارجة من بيته بغير حق وهی الناشزة حتی تعود والقول لها فی عدم النشوز بينهما الخ. (۳)

که چيري دخاوند سره اوسيري نو دبي بي نفقه واجب ده: سوال: (۱۳۱۸) زما عقد په ۴ دمارچ کال ۱۹۲۴ ميلادي باندي دنذرمحمد خان دلور سره وسو دعقد په وخت يې زما څخه پنځلس روپی ماهانه دخاندان دخرڅ او خوراك وليکلی او رجسټري يې وکړه ددي

(۱) ردالمحتار باب النفقة ج۲ ص۹۳۴. ط. س. ج۳ ص۶۱۱. ظفير
(۲) ايضاً ج۲ ص۹۲۳. ط. س. ج۳ ص۶۱۱. ظفير
(۳) الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب النفقه ج۲ ص۸۸۹ – ۸۹۰. ط. س. ج۳ ص۵۷۵. ظفير

څخه علاوه دپنځو زرو مهر موجل يې ليکلی دي اوس زما منکوحه انتهايي نافرمانه ده او دخپل مور اوپلار کره تللي ده او دزوجيت حقوق ادا کول نه غواړي دخپل مور او پلار کره اوسيدل غواړي چه زما خلاف دي په دي صورت کي نکاح منعقده سوه که نه او دمبلغ پنځلس روپی دخاندان خرڅ چه زما څخه ليکل سويدي او دمهر متعلق به شرعًا څه حکم وي؟

جواب: دخاوند پرذمه دنکاح څخه وروسته دمهر مقرر څخه علاوه دبي بي نفقه دطاقت په حيثيت لازميږي او هغه هم ترهغه وخت پوري چه دبي بي دطرفه نافرماني او دخاوند دکور څخه تګ اومنع ونه سي اوکه چيری داسي وسول يعني دبي بي دطرفه نافرماني او خروج اومنع وسي نو ددغه مودې نفقه هم دخاوند پرذمه نه پاته کيږي نوپه دي صورت کي او دزنانه دوتلو نفقه ددغه وخت چه ترڅو پوری زنانه خاوند ته واپس رانه سي دخاوند پرذمه لازمه نه ده او پنځلس روپی ماهانه دخاندان خرڅ چه دخاوند څخه ليکل سوی دي هغه هم شرعًا دخاوند پرذمه لازم نه دی البته مهر چه څومره قدر مقرر سو هغه دخاوند پرذمه واجب سو مګر مطالبه ددي دطلاق څخه وروسته يا دمرګ څخه وروسته کيدی سي کذا في کتب الفقه ([1]). فقط

دنفقي مقدار: **سوال**: (۱۳۱۹) دخرڅ دخوراك دنقدو مقدار او اندازه دماهوار او سالانه په متوسطو قومونو کي څومره قدر وي شرعًا ددي تعين او اندازه سته که دملك او وسعت مطابق وي؟

جواب: ددي څه مقدار شرعًا معين نسته متوسطه نفقه چه په کمه زنانه کي دنرخ داجناسو وغيره په اعتبار سره وي ددي مقدار په باهمي مصالحت سره يا دجماعت په مشوره سره معلوم سوی وي او خاوند دا تسليم کړي دغه مقدار مقرر کيدي دی. ([2])

دفاسدي نکاح نفقه واجب نه ده: **سوال**: (۱۳۲۰) زيد هندي ته درې ځله طلاق بائن ورکی بيا څلور پنځه کاله وروسته دا خيال يې وکی چه ده صرف طلاق بائن ورکړي وو په پټه يې دويمه نکاح وکړه ددي نکاح څخه يوه انجلۍ چه ديوه کال وه وفات سوه اوس هندي

([1]) فتجب بنكاح صحيح الخ على زوجها لانها جزاء الاحتباس الخ لا نفقة لاحدى عشر مرتدة الخ وخارجة من بيته بغير حق وهى الناشزة حتى تعود (الدر المختار على هامش ردالمحتار باب النفقه ج۲ ص۸۸۲ – ۸۸۹. ط. س. ج۳ ص۵۷۳ – ۵۷۵). ظفير

([2]) ويقدرها بقدر الغلاء والرخص ولا تقدر بدراهم ودنانير (درمختار) اى يراعى كل وقت او مكان بما يناسبه وفي البزازية اذا فرض القاضي النفقة ثم رخص تسقط الزيادة ولا يبطل القضاء وبالعكس لها طلب الزيادة وكذا لو صالحته على شيء معلوم (ردالمحتار باب النفقة ج۲ ص۸۹۷، ط.س. ج۳ ص۵۸۳)، ظفير

ته پته ولګیده چه زید زما سره دویمه نکاح دحلالی څخه بغیر کړې وه چه حرامه وه نو تردومره مودی پوری هنده دزید څخه دنفقی اخیستو مستحقه ده اوکه نه؟

جواب: په دي صورت کي دزید پرذمه نفقه واجب نه ده ځکه چه دا ښکاره ده چه دویمه نکاح فاسده نکاح سوی وه او دفقهی په کتابونو کي تصریح ده چه فاسده نکاح دنفقی موجب نه دي: والنکاح الفاسد لا یوجب النفقة الخ خانیه ج۱. ([1])

دخاوند پر ذمه دبی بی علاج لازم نه دی: **سوال:** (۱۳۲۱) زما دبیماری بي بي علاج ددوي خپلوانو په خپلی خوښي سره وکی اوس هغه خلق چه هغوی په علاج کي رقم خرڅ کړی دي زما څخه طلبوي او په کمه زمانه کي چي زما بي بي بیماره سوی وه دهغی زمانی خرڅ او خوراك هم طلب کوي نو آیا هغه رقم چه دوی صرف کړی دي پرما باندي واجب الادا دي او خرڅ او خوراك هم واجب دی او که نه؟

جواب: دخاوند پرذمه دبیماری بي بي دوایی کول واجب نه دي بلکه صرف نیکي ده نوپه صورت مسئوله کي چه کمو خلقو ددي په بیماري کي ددوایی وغیره په سلسله کي چه څه خرڅ کړي دي دهغی ادا کول دخاوند پرذمه ضروري نه دي ځکه دغه وجوب خپله پرده باندي هم نه وو نو بیا دنورو په ویلو به څه پرده باندي واجب سي: ولا یجب الدواء لمرض ولا اجرة الطبیب ولا الفصد الخ عالمګیریه ([2]) البته ددي زمانې نفقه دخاوند پرذمه واجب ده کما فی الدرالمختار: او مرضت فی بیت الزوج فان لها النفقة استحسانًا لقیام الاحتباس الخ ([3]). فقط

خپله خاوند چه بي بي ددی دمور اوپلار کورته ولیږی نو دهغې نفقه لازمه ده: **سوال:** (۱۳۲۲) یو سړي په ناخوښه زړه سره خپله بي بي ددوی دخپلوانو په اصرار باندي سره ددي دوالدینو کره ولیږله دهغه ځاي څخه بي بي دخاوند داجازت څخه بغیر او بغیر داطلاع دخپلي مور سره په پردیس کي ولاړه پردیو سړیانو ته ګوري نو دغه بي بي دخاوند څخه نفقه داخیستو مستحقه ده که نه اودنکاح څخه خارجه خو نه سوه؟

جواب: په دي صورت کي مذکوره زنانه دخپل خاوند دنکاح څخه خارجه نه سوه او چه کله خاوند بی بي په اصرار باندي خپله ددي دمور اوپلار کره لیږلي ده اګر چه دده زړه نه غوښتل نو مذکوره زنانه دنفقه غوښتلو مستحقه ده کما في الدرالمختار ولو هي في

([1]) فلا نفقة علی مسلم فی نکاح فاسد لانعدام سبب الوجوب (ایضاً ج۲ ص۸۸۲. ط. س. ج۳ ص۵۷۲). ظفیر

([2]) کما لا یلزمها مداواتها ای اتیانه لها بدواء المرض ولا اجرة الطبیب ولا الفصد والحجامة، هندیه (ردالمحتار باب النفقة ج۲ ص۸۸۹. ط س. ج۳ ص۵۷۵). ظفیر

([3]) الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب النفقه ج۲ ص۸۸۹. ط. س. ج۳ ص۵۷۵. ظفیر

بيت ابيها اذا لم يطالبها وكذا اذا طالبها ولم تمتنع او امتنعت للمهر الخ (١) يعني بي بي دنفقه غوښتو مستحقه ده دخاوند نه كه چيري هغه دخپل پلار په كور كى وي اگر چه خاوند راغوښتي وي يا نه وي او دې انكار نه وي كړي يا دمهر دوجي يى انكار كړي وي، ليكن دزنانه دخاوند داجازت څخه بغير دخپلى مور سره پرديس ته تلل درست نه دي او پرديو سړيو ته كتل په هيڅ حالت كي جائز نه دي كه دخاوند اجازت وي كه نه وي. فقط

دتنگ دست خاوند څخه جدايي: سوال: (۱۳۲۳) زيد خپلى بي بي ته دخرڅ او خوراك وركولو څخه بالكل انكار كوي او په عدالت سره هم څه ونه سول اوس دخاوند پته هم نسته او قرض هم څوك نه وركوي اوس زنانه ته دنكاح دفسخ كولو حق حاصل دي كه نه؟ آيا يو صورت سته چه په هغه سره تفريق وسي او دنفقى دنه ادا كولو او دانكار كولو په وخت كي يو صورت دتفريق سته اوكه نه؟

جواب: داحنافو مذهب په دي صورت كي دا دي چه زنانه ته دفسخ حق نه دي حاصل بلكه خاوند ته دي دنفقى وويل سى اوكه هغه يې ورنه كړي نو دحاكمانو په ذريعه دي مجبوره كړل سي او دادي ورته وويل سي چه نفقه ادا كړه كه نه وي نوطلاق وركړه صاحب دهدايه فرمايلي دي چه په دي صورت كي قاضي په دوي كي تفريق كولي سي: ومن اعسر بنفقة امرأته لم يفرق بينهما ويقال لها استديني عليه وقال الشامي رحمه الله يفرق لانه عجز عن الامساك بالمعروف فيناب القاضى منابه فى التفريق الخ (٢) اوپه درمختار كي دي: وجوز الشافعى باعسار الزوج وبتضررها بغيبته ولو قضى به حنفى لم ينفذ نعم لو امر شافعيا فقضى به نفذ (٣) اوپه شامي كي دي: قال فى غرر الاذكار ثم اعلم ان مشائخنا استحسنوا ان ينصب القاضى الحنفى نائبًا ممن مذهبه التفريق بينهما اذا كان الزوج حاضرًا وابى عن الطلاق الخ الى ان قال وعليه يحمل ما فى فتاوى قارى الهدايه حيث سئل عمن غاب زوجها ولم يترك بها نفقة فاجاب اذا اقامت بينة على ذالك وطلبت فسخ النكاح من قاض يراه ففسخ نفذ وهو قضاء على الغائب وفى نفاذ القضاء على الغائب روايتان عندنا فعلى القول بنفاذه يسوغ للحنفى ان يزوجها من الغير بعد العدة الخ ص۷۵۲ ج۲ شامى. (٤) نوپه دي صورت كي دتفريق صورت دا كيدى سي چه داسي

---

(١) الدر المختار على هامش ردالمحتار باب النفقه ج۲ ص۸۸۹. ط. س. ج۳ ص۵۷۵. ظفير

(٢) هدايه باب النفقه ج۲ ص۴۱۹. ظفير

(٣) الدر المختار على هامش رد المحتار باب النفقه ج۲ ص۹۰۳. ط. س. ج۳ ص۵۹۰. ظفير

(٤) ردالمحتار باب النفقه ج۲ ص۹۰۳ – ۹۰۴. ط. س. ج۳ ص۵۹۰. ظفير

قاضي ته دي رجوع وکړل سي چه دهغه مذهب دتفريق وي هغه که چيري تفريق وکړی نوصحيح ده او دعدت څخه وروسته دويمه نکاح جائز ده. فقط

بي بي چه دخاوند دکور څخه بې اجازته ولاړه سي نو دهغې نفقه واجب نه پاته کيږي:

سوال: (۱۳۲۴) ديو سړي بي بي باوجود دتاکيد نه لمونځ ادا کوي اونه روژه نيسي اونه دخپل خاوند اطاعت کوي بلکه ددي دبدچلنۍ په ثابتيدو باندي يې دي فاحشه زناني ته طلاق ورکړی دطلاق څخه وروسته دغه زنانه ددي خبرې مدعي ده چه دطلاق څخه مخکي دنافرماني دورځو خرڅ او خوراك ورکړي او مهر هم ادا کړي په دي صورت کي دخرڅ او خوراك اومهر په باره کي څه حکم دي؟ مذکوره زنانه ته دنافرماني په ورځو کي دطلاق څخه مخکي دخرڅ او خوراك اخيستلو حق شرعًا حاصل دي که نه؟ او چه کله طلاق دبدچلنی په وجه ورکول سي نو مهر ورکول کيږي که نه دغه رنګه دعدت دورځو دخرڅ او خوراك دعوه هم صحيح کيدي سي اوکه نه؟

جواب: بي بي که چيري دخاوند نافرمانه سي او دهغه دکور څخه ولاړه سي نو نفقه ددي ساقطيږي که دخاوند په کور کي اوسيږي نو نفقه واجبه ده (۱) نو دطلاق څخه مخکي ترڅو پوری چي دغه ښځه دخاوند په کورکي اوسيږي نفقه ددې واجبيږي ليکن دا هم مسئله ده چه دتيری سوی نفقی مطالبه دقاضي دحکم څخه بغير اوپه خپلو کي درضا څخه بغير صحيح نه ده (۲) اوکه چيري هغه مطلقه مدخوله وه يعني دوطي يا خلوت صحيحه څخه وروسته ديته طلاق ورکړل سوی وي نو پوره مهر دخاوند پر ذمه واجب الادا دی (۳) او دعدت دورځو نفقه هم دخاوند پرذمه لازمه ده برابره خبره ده که دغه زنانه ته ددي دنافرماني اوبد چلنی په وجه طلاق ورکړل سي اوکه بغير ددې څخه ورکړل سي، مهر او نفقه په هر حالت کي لازميږي هکذا فی عامة کتب الفقه (۴). فقط

خاوند چه کم ځاي اوسيږي هلته بي بي هم اوسيږي نو هله دنفقې مستحقه ګرځي: سوال:

(۱۳۲۵) دزيد نکاح دهندي سره په يوه کلي کي وسوه او دهغه ځاي څخه زيد هنده خپل مکان ته بوتله چه کم مسکن دهندي څخه ددوو ورځو په فاصله دي دا مکان دزيد په يو

---

(۱) وان نشزت فلا نفقة لها حتى تعود الى منزله (هدايه باب النفقه ج۲ ص۴۱۲). ظفير

(۲) واذا مضت مدة لم ينفق الزوج عليها وطالبته بذلك فلا شيء لها الا ان يكون القاضي فرض لها النفقه او صالحت الزوج على مقدار نفقتها فيقضى لها بنفقة ما مضى (هدايه باب النفقه ج۲ ص۴۱۸). ظفير

(۳) ومن سمى مهر عشرا فما زاد عليه المسمى ان دخل بها أو مات عنها (هدايه باب المهر ج۲ ص۳۰۴). ظفير

(۴) واذا طلق الرجل امرأته فلها النفقة والسكنى فى عدتها رجعيا كان او بائناً (هدايه باب النفقه ج۲ ص۴۲۱. ط. س. ج۳ ص۵۷۲). ظفير

ځاي کي دي او دقصبې څخه داته ۸ میله په فاصله باندي دي دنکاح نهه کاله وسوه په دغه زمانه کي هنده دزید سره ښه اوسیده اوس دیونیم کال راهیسي زید ړوند سوی دی نو هنده دهغه څخه جدایی غواړي او دا بهانه یې جوړه کړیده چه زید په کلي کي اوسیږي او زما کلي په کي اوسیدل خوښ نه دي په قصبه کي چه کم ځاي دزید داوسیدو دي هلته دي زما دخوراك او څښاك انتظام وکړل سي، آیا زید پردي خبره باندي مجبوریدی سي چه هغه بي بي په قصبه کي وساتي او هلته دهغې دخوراك او څښاك انتظام وکړي، شرعًا په دي باره کي څه حکم دي؟

جواب: زید به شرعًا پردي امر باندي نه سي مجبوره کیدی چه هغه دهندي دخواهش مطابق هغه په مذکوره قصبه کي وساتي او ددي دخرڅ او خوراك انتظام وکړي بلکه دهندې دپاره ضروري ده چه هغه دخاوند په کورکي واوسي که چیري هنده دزید درضامندي او اجازت څخه بغیر دغه قصبي ته ولاړه سي او اوسیږي نو ددي نفقه به دزید دذمې څخه ساقطه سي، کذا في الدرالمختار (۱) وغیره. فقط

دنکاح څخه وروسته بي بي که دخاوند په کورکي اوسیږي نو نفقه حاصلول پکار دي: سوال: (۱۳۲۲) دزید نکاح دهندې سره سوی وه، ډیر وخت وسو تر اوسه پوري هنده دزید کورته نه ده تللي او نه دآینده دپاره تلل قبلوي په دي صورت کي زید ته دهندي دغه رنګه همیشه دځوړنده (معلقه) ساتلوحق سته اوکه دنه ورتللو په وجه دهندي دپریښودلو حکم دي؟

جواب: چه کله دهندي نکاح دزید سره دشریعت دقاعدی مطابق وسوه نو اوس هندي ته اختیار نسته چه هغه دزید کور ته نه راتلل او جدایی وغواړي هنده به دزید منکوحه وي ددې وجه پکاردي چه هغه دخاوند اطاعت وکړي او دزید پرذمه دا دي چه کله هنده دزید کورته راسي نو ددي دخرڅ او خوراك خبر وساتي اودزوجیت حقونه یې ورادا کړي که چیري دغه وخت زید څه کوتاهي وکړي نو هغه به ګناهګار وي اوکه چیري هنده دزید کور ته ولاړه نه سي بغیر دڅه وجه شرعي څخه نو په دي کي هنده ګناهګاره ده قال الله تعالی: الرجال قوامون علی النساء بما فضل الله بعضهم علی بعض وبما انفقوا من اموالهم فالصلحٰت قنتٰت حفظٰت للغیب بما حفظ الله. (۲)

دوکیل څه شي مقرر کول دخاوند پر ذمه نه واجبیږي: سوال: (۱۳۲۷) دیوي زنانه دیو سړي

(۱) خارجة من بیته بغیر حق وهی الناشزة حتی تعود (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب النفقه ج۲ ص۸۹۰). ظفیر

(۲) سورة النساء رکوع : ۲. ظفیر

سره نکاح وسوه ددغه سړي دنکاح په وخت کي ددغه سړي دوکيل سره دا خبره وسوه که چيري ناکح يعني هغه شخص چه دچا سره نکاح وسوه وروسته څه حرکت وکړي نو دبي بي ديوي يوي ورځي دپاره به يوه يوه روپي خرچه اخستل کيږي وکيل دا خبره وليکله ليکن مذکوره وکيل ته دغه سړي ددغه قسم ليکلو هيڅ اجازت نه وو ورکړي دخپل طرف څخه وکيل ليکل کړي وه که چيري څه حرکت وکړي نو يوه روپي خرڅ به روزانه هغه سړي چه دچا نکاح سوی ده ورکوي دوکيل صاحب دا ليکل چه ددغه سړي داجازت څخه بغير دي چه دچا نکاح سوی ده درست دي اوکه نه؟
جواب: وکيل ته چه دي دنکاح وکيل وو اختيار دداسي تحرير نه وو يوه روپي روزانه دخاوند پرذمه نه لازميږي او دوکيل پرذمه به هم نه وي ځکه چه دا تحرير دشريعت څخه خلاف او باطل دی.
دنافرماني په صورت کي نفقه نه واجبيږي: **سوال**: (۱۳۲۸) دلته داسي رواج دي چه دواده څخه وروسته زنانه دخاوند په کورکي يو کال اوسيږي يو کال وروسته دبي بي پلار دغه بي بي خپل کور ته بيايي ددې څخه وروسته دوه کاله تيريږي ددوو کالو په وخت کي ډير ځلي خاوند دخپلي بي بي دراوستو دپاره کسان پسي وليږل ليکن دبي بي پلار خپله لور رخصت نه کړه او اوس دبي بي پلار ديوي يوي ورځي يوه يوه روپی خرچه اخيستل غواړي نو په دي صورت کي څه حکم دي؟
جواب: دخاوند پرذمه په دي صورت کي نان او نفقه وغيره او يوه روپی روزانه هيڅ نسته ځکه چه نافرماني په دي صورت کی دزنانه دطرف څخه سويده په داسي حالت کي دزوجی نفقه ساقطيږي اوپه درمختار کي دي: لا نفقة لاحدی عشرة الخ وخارجة من بيته بغير حق (۱) الخ وفی الشامی وتجب النفقة من حين العقد الصحيح وان لم ينتقل الی منزل الزوج اذا لم يطالبها الخ ص۶۴۲ (۲)، نود: اذا لم يطالبها، دقيد څخه معلومه سوه که يې چيري خاوند طلب کړي او زنانه دده کورته دطلب څخه وروسته رانه سي او دامتناع هيڅ شرعي وجه نه وي نو نفقه ددې ساقطيږي.
چه کمه بي بي دخاوند اطاعت نه کوی ددي نفقه پرخاوند باندي نسته: **سوال**: (۱۳۲۹) هندي دخاوند اطاعت پرينبووی او دده په کورکي هم نه اوسيږي دخپل مور او پلار په کورکي اوسيږي او دخاوند داجازت څخه بغير سفر دغير محرم پرته کوي په دي صورت کي آياخرڅ اوخوراك يې پرخاوندباندي لازم دي که نه؟ زنانه دموراوپلاردکورڅخه دخرڅ

(۱) الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب النفقه ج۲ ص۸۸۹. ط. س. ج۳ ص۵۷۵. ظفير
(۲) ردالمحتار باب النفقه ج۲ ص۸۸۹. ط. س. ج۳ ص۵۷۵. ظفير

او خوراك طالبه ده.

جواب: دداسي زنانه نفقه ساقطيږي كما فى الدر المختار لا نفقة لاحدى عشرة الى ان قال وخارجة من بيته بغير حق وهى الناشزة الخ ([1]). فقط

دشرط مطابق پرخاوند باندي نفقه واجبه ده: **سوال**: (۱۳۳۰) هنده دخپلو والدينو سره داجمير شريف سكونت لري او دهندي دخاوند زيد سكونت پخوانى او حالا داكبرآباد دي او نكاح هم دهنده په اجمير شريف كي سوى ده زيد دهندي خاوند دنكاح په وخت په يوه اقرارنامه كي ليكلي دي چه هنده دي دخپل خفګان په وخت په اجمير يا چيري چي غواړي اوسيږي دي زه به په دغه حالت كي هم خپلي بي بي هنده ته بغير دڅه عذره پنځه روپى ماهانه وركوم چه زيد هندي ته قسما قسم تكاليف ورسول چه دهغو په زحمتونو سره هنده مجبوره سوه داكبر آباد څخه اجمير ته دمور او پلار كور ته راغله اوس زيد جبرًا داجمير شريف څخه اكبر آباد ته دهندې بيول غواړي او هنده تلل نه غواړي زيد ته دبيولو حق سته اوكه نه؟

جواب: په دي صورت كي خاوند ته پكار دي چه دشرط موافق خپله بي بي اجمير شريف ته بونه زي او نفقه دي وركوي لكه چي په حديث شريف كي راځي احق الشروط ان توفوا بها ما استحللتم به الفروج ([2]) متفق عليه، ليكن كه خپل وطن اكبر آباد ته يې مثلاً بيول مصلحت ګني او خوښوي نو ده ته داحق سته چه بويې زي او داهم حق دي چه كه چيري بي بي دده دوينا موافق اكبر آباد وغيره ته ولاړه نه سي نو نفقه دي نه وركوي. ([3])

بي بي دخاوند په خلاف اوسيدو سره دنفقي مستحقه نه ده: **سوال**: (۱۳۳۱) چه كله دخاوند دمخكي بي بي څخه اولاد نارينه او زنانه دواړه سته او ددويمي بي بي دشرعي حقوقو خاوند څه خيال نه ساتي نو آيا بي بي په داسي صورت كي چي دخاوند څخه جلا اوسيږي نو شرعي حقوق طلب كولي سي اوكه نه؟

جواب: كه دخاوند درأى په خلاف دده دكور څخه جلا اوسيږي نو نفقه نه سي طلب كولي بلكه هلته دي اوسي او دنفقى مطالبه دي وكړي دخاوند نافرماني درسته نه ده ([4]). فقط

دمعلقه بي بي نفقه ضروري ده: **سوال**: (۱۳۳۲) يوسړي پرخپله بي بي باندي دخپل ميريزي

([1]) الدر المختار على هامش ردالمحتار باب النفقه ج۱ ص۸۸۹. ط. س. ج۳ ص۵۷۵. ظفير

([2]) مشكوة باب اعلان النكاح وغيره ص۲۷۱. ظفير

([3]) ولذا قيد بالاجنبى اذ لو كان محرما لم يكن لها نفقة لانه ليس لها الامتناع (رد المحتار باب النفقه ج۲ ص۸۹۱. ط. س. ج۳ ص۵۷۶). ظفير

([4]) لا نفقة لاحدى عشرة الخ وخارجة من بيته بغير حق وهى الناشزة حتى تعود (الدر المختار على هامش رد المحتار باب النفقه ج۲ ص۸۹۰. ط. س. ج۳ ص۵۷۵). ظفير

زوي سره الزام ولګوی لیکن خپله یې یوه واقعه چه په هغې سره ثبوت په پوره طریقې سره حاصل سي نه ده لیدلي او څومره قدر واقعه چه یې لیدلي ده هغه علماء کرامو دثبوت دالزام دپاره کافي ونه ګڼله او دغه زنانه په نکاح کې قائمه پاته سوه لیکن دغه سړي پرخپل شك باندي قائم دي او دکم وخت څخه چه ده ته دا شبه سویده بي بي یې معلقه پریښوولي ده که چیري دا خپلي بي بي ته طلاق ورکړي نو ددغه مظلومي بي بي خرڅ او خوراك چه دکله څخه یې دا معلقه پریښوولي ده دخاوند پرذمه به وي او که نه؟ چه دهغې تعین دنکاح په وخت پنځلس روپی ماهانه سوی دي؟

جواب: مقرره نفقه دخاوند پر ذمه دمذکوره مودې واجب الادا ده کما فی الدر المختار: والنفقة لا تصیر دینًا الا بالقضاء او الرضاء ای اصطلاحاً علی قدر معین الخ. (۱)

داولاد نفقه: **سوال**: (۱۳۳۳) او آیا ددي ددرو واړو اولاد خرڅ او خوراك تر اوسه پورې او آینده به دخاوند پرذمه وي اوکه نه؟

جواب: دهرو درو واړو اولاد نفقه ددوی دپلار پرذمه یعني ددغه زنانه پرخاوند لازمه ده قال فی الدر المختار وتفرض النفقة الخ لزوجة الغائب وطفله (۲) الخ وایضا فیه وتجب لطفله یعم الانثی والجمع الخ (۳). فقط

دزچه خانه نفقه: **سوال**: (۱۳۳۴) په زچه خانی کي چه کم مصارف وسي هغه دخاوند پر ذمه دي اوکه نه؟

جواب: هغه مصارف هم دخاوند پر ذمه دي.

دمهر اداېګي: **سوال**: (۱۳۳۵) دمهر چه کم تعداد مقرر کړل سوی وو دهغه ادا کول دخاوند پرذمه ضروري دي که نه؟ که زباني وي اوکه تحریري ځکه چه دنکاح په وخت یو زر معجل او زر موجل او زیور بخښل سوي دي، تحریر کړل سول او یو مکان قیمتي دپنځو سوو روپو زباني وعده کړل سوی وو چه په تحریر کي نه دي راغلي ګواهان یې موجود دي؟

جواب: دطلاق څخه وروسته چه کم مهر موجل وي هغه هم معجل کیږي لهذا دطلاق ورکولو څخه وروسته کل مهر دخاوند پرذمه واجب الادا دي قال فی ردالمحتار ناقلاً عن الخلاصة وبالطلاق یتعجل المؤجل الخ. (۴)

---

(۱) الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب النفقه ج۲ ص۹۵۲. ط. س. ج۳ ص۵۹۴. ظفیر
(۲) الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب النفقه ج۲ ص۹۱۲. ط. س. ج۳ ص۶۰۴. ظفیر
(۳) ایضاً ج ۲ ص۹۲۳ ط. س. ج۳ ص۶۱۲. ظفیر
(۴) رد المحتار باب المهر ج۲ ص۴۹۳. ط. س. ج۳ ص۹۴۴. ظفیر

دبي بي دنفقې مقدار: **سوال**: (۱/۱۳۳۲) دبي بي نفقه چه خاوند غني دي او بي بي مسکينه وي څومره به وي او مفتي به قول په دي باره کي څه دی؟

دنفقې څخه زيات رقم چه دبي بي سره جمع وي: **سوال**: (۲/۱۳۳۲) زيد خپلې بي بي ته دخپلي پوره تنخواه څخه چه ۵۰۰ روپۍ ماهانه وه ددولسو کالو څخه ورکوله او دغه رقم ددي او دده دعيال دنفقې څخه ډير زيات وو بي بي دهغې څخه يو معتدبه رقم منفي کړې، نو دا رقم دزيد ملکيت دي که دبي بي؟ او زيد ترپنځو کالو پورې خپلې بي بي ته دا نه دي ويلي چه باقي رقم دي په مهر کي حساب کړل سي؟

جواب: (۱) په درمختارکي دي فتستحق النفقة بقدر حالهما به يفتى ويخاطب بقدر وسعه وفى رد المحتار قال فى البحر واتفقوا على وجوب نفقة الموسرين اذا كانا موسرين وعلى نفقه المعسر اذا كانا معسرين وانما الاختلاف فيما اذا كان احدهما موسرًا والاخر معسراً فعلى الظاهر الرواية الاعتبار لحال الرجل فانكان موسراً وهى معسرة فعليه نفقة الموسرين وفى عكسه نفقة المعسرين واما على المفتى به فتجب نفقة الوسط فى المسئلتين وهو فوق نفقة المعسرة ودون نفقة الموسرة (۱) نو دمفتي به قول مطابق په دي صورت کي به ددرميانه درجې نفقه دخاوند پرذمه لازمه وي ددي مقدار به دهرې زماني دنرخ او ګرانۍ په اعتبار سره مقرر کيږي مثلاً که چيري دادني درجي نفقه لس روپۍ ماهانه او اعلي درجې شل روپۍ وي نو درميانه به پنځلس روپۍ وي او دبچي خرڅ به دهغه دخرڅ په اندازه او دحاجت په اندازه متعين کيږي. فقط

جواب: (۲) په دي صورت کي که چيري دزيد نيت دا وي چه کم قسم ددي رقم څخه دنفقې څخه وروسته پاته وي هغه هم دزوجې مملوك دي نو مالك ددغه باقي مانده رقم زوجه ده اوکه چيري دهغې مالك جوړول يې مقصود نه وي نو دغه زيات رقم مملوك دزيد دی. فقط

دباطلي نکاح نفقه: **سوال**: (۱۳۳۷) زيد دهندي سره نکاح وکړه څه وخت وروسته يې هنده بد چلنه وليده نو زيد ديته طلاق ورکول وغوښتل زيد کاغذ واخيستی په عرض نويس سره يې طلاق نامه وليکله اقرار يې دا وليکی که چيري هنده دزيد زيورات چه دهندي سره دي زيد ته وروايس کړل او دمهر دمعافي اقرار نامه وليکي نو زيد به هنده ته دګواهانو مخامخ طلاق شرعي ورکړي او آزاده به يې کړي ليکن کله چه طلاقنامه وليکل سوه نو تردغه وخته پورې دزيد دستخط نه وو سوی هندي دمهر دواپس ورکولو او

---

(۱) ردالمحتار باب النفقه ج۲ ص۸۸۸. ط. س. ج۳ ص۵۷۴. ظفير

دمهر دمعافي داقرار نامي دليكلو ښځه انكار وكی چه په هغه باندي زيد نه طلاقنامه مكمله كړه چي هندي ته يې وركړي او نه يې په ژبه طلاق وركړی هنده دڅلور ږنځه كاله اواره ګرځيدو ښځه وروسته دبكر سره نكاح وكړه دبد چلنۍ په وجه بكر ورلره هم طلاق وركړی آيا هنده دبكر ښځه دمهر او دعدت دورځو دنفقی اخيستلو مستحقه كيدي سي اوكه نه؟ بكر دهندي دفريب ښځه ناخبره وو دبكر څه ګناه وسوه اړكه نه؟

جواب: دزيد دطرف ښځه پرهنده باندي په دي صورت كي طلاق واقع نه سو ځكه چه هنده په خپل اقرار باندي قائمه پاته نه سوه نو دزيد دطرف ښځه هم طلاق واقع نه سو او چه كله هنده مطلقه نه سوه نو دبكر سره يی نكاح صحيح نه سوه اوچه كله نكاح ونه سوه نو دبكر ښځه دنفقی او دمهر هم مطالبه نه سي كولي ([1]) او بكرته چونكه دهندي دفريب څه پته نه سوه معلومه نو په دي وجه هغه ګناه ګار نه سو. فقط

خاوند چه كله خپله بي بي رانه ولي نو ددې نفقه دخاوند پرذمه ده: سوال: (۱۳۳۸) ديو سړي نكاح ديوي ښځي سره وسوه تردوو كالو پوري تقريبًا په خپلو كي په اتفاق سره اوسيدل او يو هلك پيدا سو ددي ښځه وروسته دخاوند په رضا سره زوجه دخپلو والدينو كره ولاړه او هلته اوسيده بيا خاوند كله هم را ونه غوښته دزوجی او ددي والدينو دتقاضی باوجود خاوند دراوستلو دپاره رانغی اونه يی ورته دراتلو اجازت وركی او ددي والدينو په دغه وخت كي دا وغوښتل چه يا خو دي خپله زوجه را وبلي يا دي دلته اوسيږي او خرڅ او خوراك دي وركوي ليكن خاوند په هيڅ امر باندي نه راضي كيدی نو په دي صورت كي زنانه دنفقې مطالبه كولي سي اوكه نه؟

جواب: په دي صورت ددغه ښځي نفقه دخاوند پرذمه لازمه ده ځكه چه دزوجي دطرفه هيڅ نشوز نه دی سوی په درمختار كي دي: فتجب ولو هی فی بيت ابيها اذا لم يطالبها الزوج بالنقلة به يفتی وكذا اذا طالبها ولم تمتنع الخ ([2]) نو زنانه دنالش وغيره په ذريعه نفقه اخستي سي. فقط

چه كمه بي بي وتښتي او دخاوند روپي واخلي ددي نفقه: سوال: (۱۳۳۹) دزيد منكوحه ښځه دخپل خاوند داجازت ښځه بغير بې له څه وجي ناڅاپه شپږ سوه روپی مال واخستی مفروره سوه چه دهغې اتلس كاله تير سول نن هغه ددومره اندازه وخت ښځه وروسته دماهواری خرڅ طلبګاره ده آيا زيد دخرڅ كفيل كيدي سي اوكه نه؟

([1]) اما نكاح منكوحة الغير الخ فلم يقل احد بجوازه فلم ينعقد اصلا (ردالمحتار باب العدة ج۲ ص۸۳۵. ط. س. ج۳ ص۵۱۲). ظفير

([2]) الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب النفقه ج۲ ص۸۸۹. ط. س. ج۳ ص۵۷۵. ظفير

جواب: په درمختار باب النفقه کي دي: لا نفقة الخ الخارجة من بيته بغير حق وهی الناشزه الخ [1] ددي عبارت څخه واضحه ده چه دغه زنانه نافرمانه ده او ددي نفقه دخاوند پرذمه نه ده دعوه ددي باطله ده.

دتيرې سوې زماني خرڅ به نه ورکول کيږي: **سوال**: (۱۳۴۰) مذکوره زناني تر اتلسو کالو پوري انجوني دزيد څخه پټې وساتلې په دي صورت کي زيد دانجونو دخرڅ ذمه دارکيدی سي اوکه نه؟

جواب: دتيرې سوې زماني خرڅ به نه ورکول کيږي قال فی الدرالمختار والنفقة لا تصير دينًا الا بالقضاء او الرضاء فی ردالمحتار ثم اعلم ان المراد بالنفقة نفقة الزوجة بخلاف نفقلأ القريب فانها تصر دينًا ولو بعد القضاء او الرضاء حتی لو مضت مدةً بعدهما تسقط کما ياتی الخ [2]. فقط

بې اجازته چه کله په عدت کي ولاړه سي: **سوال**: (۱۳۴۱) هندي ته زيد طلاق ورکړی هغه دزيد څخه دګناه دبيري دوجي دخپل پلار کره ولاړه نو آيا دعدت دزماني نفقه دزيد پرذمه واجب ده او دطلاق څخه وروسته چه کم هلك دزيد څخه پيدا سو دهغه نفقه هم زيد هندي ته نه ورکوي، څه حکم دی؟

جواب: نفقه دعدت دمطلقی دپاره واجبيږي او دخاوند دنافرمانی په وجه ساقطيږي، په شامي کي دي: ونفقة العدة کنفقة النکاح وفی الذخيرة وتسقط بالنشوز الخ [3] باب النفقة جلد ثانی شامی ص۲۲۹، وفی الدرالمختار لا نفقة الخ لخارجة من بيته بغير حق الخ [4] او چونکه په صورت مسئوله کي په عدت کي وتل دمطلقي بي عذره دي لهذا نفقه ددي ساقطيږي او هلك چه دطلاق څخه وروسته پيدا سو نسب دده دزيد څخه ثابت دي يعني په هغه موده کي پيدا سو چه نسب دده دزيد څخه ثابتيږي نو نفقه دده هم دپلار پرذمه ده په شامي کي دي: قال فی البحر وعلی هذا يجب علی الاب ثلثة اجرة الرضاع واجرة الحضانة ونفقة الولد الخ [5] ص۲۳۷ جلد ثاني. فقط

دتيرو سوو ورځو نفقه پرخاوند باندي واجبه نه ده: **سوال**: (۱۳۴۲) محمد خليل خاوند دمسمات رحمت په دواړو کي اتفاق نه وو ددي وجي محمد خليل خپله مذکوره بي بي

---

[1] ايضاً ج۲ ص۸۸۹ – ۸۹۰. ط. س. ج۳ ص۵۷۲. ظفير
[2] رد المحتار باب النفقة مطلب لا تصير النفقة دينا الا بالقضاء ج۲ ص۹۰۲. ط. س. ج۳ ص۵۹۴. ظفير
[3] ردالمحتار باب النفقة تحت قوله وتجب لمطلقة الرجعی والبائن مطلب فی نفقة المطلقة ج۲ ص۹۲۱. ظفير
[4] الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب النفقة ج۲ ص۸۸۹ – ۸۹۰. ظفير
[5] ردالمحتار. ظفير

ددي دوالدينو كور ته واستوله او هغه تر شلو ورځو پوري دوالدينو په كوركي وه په دي مينځ كي محمد خليل خپلي بي بي ته هيڅ نفقه هم ورنكړه نو شرعًا زوجه مذكوره دخپل خاوند محمد خليل څخه دتيري سوي مياشتي دورځودنفقه اخيستلومستحقه ده اوكه نه؟

جواب: والنفقة لاتصير دينًا الا بالقضاء او الرضاء درمختار (۱) ددي عبارت څخه معلومه سوه چه دتيري سوي زماني نفقه دقاضي دحكم څخه بغير يا پريو مقدار معين باندي په صلح كولو سره نه لازميږي. فقط

دخور نفقه پر ورونو باندي: **سوال**: (۱۳۴۳) زيد انتقال وكى يوه نابالغه انجلۍ يو عيسي ورور او يو اخيافي ورور يې پريښودل نو عند الشرع دانجلۍ نفقه او دنكاح اجازت دچا پرذمه واجب دي؟

جواب: انجلۍ كه نابالغه وي يا بالغه كه چيري هغه محتاجه وي نفقه ددي په حالت مذكوره كي پر دواړو ورونو باندي دميراث په اندازه و اجبه ده شپږمه حصه پراخيافي ورور باندي او باقي پرعيسٰي ورور باندي چه دميراث حساب هم دغسی دي صرح به فی الدر المختار بعد قوله بقدر الارث الخ ولو اخوة متفرقين فسدسها على الاخ لام والباقی على الشقيق كارثه الخ (۲) او دنكاح ولايت دعصوبت په اعتبار دي لهذا دنكاح ولي دنابالغي په دي صورت كي عيسٰي ورور دي كما فی الدرالمختار: والولی فی النكاح لا المال العصوبة بنفسه الخ على ترتيب الارث والحجب (۳). فقط

دزيد په وعده نه پوره كولو باندي بي بي دخپل خاوند څخه جدا نه سي پاته كيدي: **سوال**: (۱۳۴۴) زيد دهندي سره واده كول غواړي دزيد نوري بيبياني هم موجودي دي دهندي مور اوپلار دزيد څخه دا خواهش كوي چه هغه دخپل جايداد يوه حصه دهندي په نوم كړي چه دآينده جګړو احتمال پاته نه سي زيد يوه اقرار نامه دهندي په حق ليكي چه چونكه زما څخه دا خواهش كړل سوی دي چه تر هغه وخته پوري چه زه يو مكان دلسو زرو روپو او دغه ډول دخپل ټول جايداد منقوله څخه نيمه حصه دهندي په نوم هبه نه كړم ازدواج به ددي سره نه كيږي لهذا زه دهوش او حواس په ثبات سره بغير دجبر او اكراه اقرار كوم چه مكان نمبر فلاني چه دفلاني مملوكه دي چه دمذكوره مكان چه داوسيدو درقم په فورًا وصولولو سره يو بل مكان يا بل يو جايداد ددي دزړه دغوښتني موافق يا همدغه مرهونه مكان دي ته به وركوم او ددي په حق كي به يې هبه كوم ديته به

(۱) الدر المختار على هامش رد المحتار باب النفقة مطلب لا تصير النفقة ديناً ج۲ ص۹۰۲. ظفير

(۲) الدر المختار على هامش ردالمحتار باب النفقة ج۲ ص۹۴۵. ظفير

(۳) الدر المختار على هامش ردالمحتار باب الولی ج۲ ص۴۲۷. ظفير

ټول مالکانه حقوق پردغه دلسو زرو روپو په اخستل سوی جایداد باندي حاصل سي اوکه چیري په مستوراتو کي موافقت ونه سي نو په جلا مکان کي به یې اوسوم ددې څخه علاوه مي خپل ټول مسکونه جایداد او دذاتي مال نیمه حصه چه دهغو تفصیل په دغه اقرار نامه کي درج دي دمسماة هنده په حق کي هبه کړه. او ټول مالکانه حقوق چه ماته ددی متعلق حاصل وه هغه په دي ذریعه دمسماة پر ذات باندي منتقل کړل سوه چونکه زما ازدواج پردي شرط باندي موقوف وو لهذا ما په خپله خوشحالی او دنورو وارثانو په رضامندي دا تحریر ولیکلی، ددي اقرار په اعتماد باندي دزید سره دهندي نکاح کیږي او دهندي څخه اولاد هم پیدا سوی دي لیکن دزید دتقاضا په وصف سره ددغه اقرار نامې په موجب عمل نه کوي ددي وجي هنده دخپل مور او پلار کورته راځي اوکښیني، نو آیا زید ته ددغه اقرار نامې په موجب ترعمل نه کولو پوری دهندي دحق طلب کیدی سي اوکه نه او هندي بي بي ته ددعوی دطلب په صورت کي دا حق دامتناع داصرار حاصل دي که نه؟ چه ترڅو پوری زید دخپل مخکني اقرار موافق یعني داقرار نامه په موجب تعمیل ونه کړي زید دبي بي دحق دطلب څخه ممتنع کیدی نه سي او په داسی حالت کي په دي وصف سره چه هنده دخپل مور اوپلار سره پاته سي پرزید باندي دهندي نفقه واجب الادا ده که نه؟

جواب: مهر معجل که چیري خاوند ورنه کړي نو ددي په وجه زوجه خپل نفس دخاوند څخه بندولي سي علاوه دمهر څخه چه کمه وعده خاوند دمکان جایداد وغیره ورکولو کړیده یا اقرار نامه یې لیکلي ده نو دهغی دنه پوره کولو په وجه زوجه خپل نفس نه سي بندولي البته دمهر نه ورکولو په وجه که چیري زنانه دخاوند کورته ولاړه نه سي نو نفقه نه ساقطیږي په خلاف دصورت مذکوره چه که چیري دا وعده دمکان وغیره دهبه کولو څخه علاوه دمهر وي نو دمکان دوعدې دنه پوره کولو په وجه زوجه خپل نفس نه سي بندولي، قال فی الدر المختار: ولو منعت نفسها للمهر الخ لانه منع بحق فتستحق النفقة الخ ولو هی فی بیت ابیها اذا لم یطالبها الزوج بالنقلة بة یفتی وکذا اذا طالبها ولم تمتنع او امتنعت للمهر الخ. ([1]) فقط

دنفقي دعوي پرخاوند باندي: **سوال**: (۱۳۴۵) دیوي زنانه دنکاح دیارلس کاله وسول ددي خاوند تر ننه پوري په هیڅ طریقه ددي خبرګیر نه دي نه ډوډی او کپړی ورکوي او نه ورسره بیده کیږي ددري قوسه په فاصله باندي وي اونه طلاق ورکوي دغه مذکوره زنانه

([1]) الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب النفقه ج۲ ص۸۸۸ – ۸۸۹. ط. س. ج۳ ص۵۷۵. ظفیر

خپله نکاح بل ځای کولي سي اوکه نه؟

جواب: دطلاق څخه بغیر بل ځای نکاح نه سي کولي (١) لیکن دنفقی دعوه دي وکړي او دسرکار په حکم دي دهغه څخه کیږي او خرڅ او خوراك وصول کړي. فقط

چه کله والدین انجلۍ دخاوند کره ونه لیږي: **سوال**: (۱۳۴۶) که چیري مور او پلار انجلۍ دخاوند کور ته ونه لیږي او انجلۍ دوالدینو دعدم رضا په وجه دخاوند کره دتګ څخه انکار وکړي نو دخاوند پر ذمه به نفقه واجب وي اوکه نه؟

جواب: په دي صورت کي به نفقه ددی دخاوند په ذمه نه وي او دابه ګناهګاره وي. (٢) فقط

دنفقي دنه ادا کولو په وجه جداوالي نسته: **سوال**: (۱۳۴۷) دښځي او خاوند تر مینځ انتهایي مخالفت پیدا سوي دي دزنانو وارثانو سره دخاوند دناقابل برداشت جبر اوتعدي او دخرڅ او خوراك دخبر نه اخیستو ګواهان موجود دي په دي وجه زنانه او دهغه وارثان دزوجینو تر مینځ تفریق کول غواړي په دي صورت کي څه حکم دي؟

جواب: زموږ په مذهب کي دنفقه نه ورکولو په وجه تفریق بین الزوجین نه سي کیدی البته پرخاوند باندي دنفقی نالش کیدی سي او دتکلیف دلیري کولو طریقه دي دسرکار په ذریعه وکړل سي. (٣)

چه کمه زنانه دکوشش باوجود دخاوند کورته نه راځي دهغي نفقه واجبه نه ده: **سوال**: (۱۳۴۸) دیو سړي بي بي دخپل مور اوپلار سره اوسیږي اوخاوند هر وخت کوشش کوي چه زما بي بي زما سره واوسي لیکن هغه په هیڅ طریقه دخاوند سره نه اوسیږي او ددي سره دوه بچیان هم دي چه دغه بچیان هم پلار ته نه لیږي او په عدالت سره دي شپږ روپۍ ماهانه دخاوند څخه اخیستل مقرر کړي دي خاوند مجبوره سو نو دویمه نکاح یې وکړه په دي صورت کي شرعًا ددغه زنانه نفقه دخاوند پرذمه واجب ده اوکه نه؟ او مسمات دخپل ځان دخطری په وجه مبلغ اووه روپۍ دخاوند څخه طلب کوي؟

جواب: په دي صورت کي دغه بي بي نفقه دخاوند پرذمه واجب نه ده ځکه چه دا نافرمانه

---

(١) اما نکاح منکوحة الغیر ومعتدته الخ لم یقل احد بجوازه فلم ینعقد اصلا (ردالمحتار باب المهر ج۲ ص۴۸۲، ط. س. ج۳ ص۵۲۱). ظفیر

(٢) لا نفقة الخ خارجة من بیته بغیر حق وهی الناشزة حتی تعود (الدر المختار علی هامش رد المحتار باب النفقه ج۲ ص ۸۹۰. ط. س ج۳ ص۵۷۶). ظفیر

(٣) ولا یفرق بینهما لعجزه عنها بانواعها الثلاثة ولا بعدم ایفائه (درمختار) قوله بانواعها الثلاثة وهی ماکول وملبوس ومسکن (ردالمحتار ج۲ ص۹۰۳) اوس دښځو دمتعنت دپاره دتفریق صورت را ایستل سویدي وګوری: الحلیة الناجزة للتهانوی. ط.س. ط. س. ج۳ ص۵۹۰. ظفیر

ده او دنافرماني نفقه دخاوند دذمي څخه ساقطيږي: والناشزة لا نفقة لها وهى اللتى خرجت من منزل الزوج بغير اذنه بغير حق فتاوى قاضى خان (۱) وان نشزت فلا نفقة لها (هدايه) (۲) او دښځي دا مطالبه په شرعي حيثيت سره ناجائز او قابل قبول نه ده. فقط

چه کم خاوند نه نفقه ورکوي او نه يې بيايي هغه به څه کوي؟ **سوال**: (۱۳۴۹) دسوال خلاصه دا ده چه يو سړي خپلې بي بي ته نه خرڅ او خوراك ورکوي او نه طلاق ورکوي خپله يې دويمه نکاح کړيده په دي صورت کي زنانه دمهر مؤجل او دنفقى دعوي کولي سي که نه او تفريق کيدى سي اوکه نه؟

جواب: دحنفيانو مذهب په دي صورت کي دا دي چه دطلاق ورکولو څخه بغير تفريق نه سي کيدى او دويمه نکاح دانجلۍ نه سي کيدى چه څه رنګه وي ددي دخاوند څخه دي طلاق واخستل سي اکراه او جبر دي پر وکړي که چيري دهغه څخه طلاق واخستل سي او دطلاق څخه وروسته به دمهر مؤجل دوصول دعوي هم دښځي دطرف څخه وکړل سي او دتيري سوي نفقى دعوى نه سي کيدى چه کله دحاکم دطرف څخه ماهانه نفقه وغيره مقرر کړل سوي نه وي، هکذا في الدرالمختار. (۳)

چه کله يې خاوند په خپله نه بيايي نوپر ده باندي نفقه واجب ده: **سوال**: (۱۳۵۰) هنده دزيد بي بي دخپلى کوچنى خور په واده کي دخسرګنى څخه رخصت سوه دمور اوپلار کورته راغله دتقريب څخه وروسته زيد دهندي درخصتۍ څخه انکاري سو او بالکل يې تعلق پرې کړى هندي په عدالت کي دخرڅ او خوراك دعوي وکړه زيد جواب ورکى چه هنده بدچلنه ده ماته ددي ضرورت نسته عدالت دا فيصله وکړه چه هنده ضرور بدچلنه ده په داسي صورت کي هغه دخوراك او کپړي دخپل خاوند زيد څخه هيڅکله داخيستو مستحقه نه سي کيدي په داسي صورت کي پرهنده باندي طلاق و اقع سو اوکه نه او دزيد څخه مهر وصولولي سي اوکه نه؟

جواب: په دي صورت کي شرعًا دهندي نفقه دزيد پرذمه واجب ده ځکه چه هنده دخاوند په اجازت سره دخپل مور او پلار کورته راغله او بيا زيد دا خپل کورته رانه وسته با وجود ددي چه هنده دخاوند کورته دتګ څخه انکارنه کوي نوپه دي صورت کي نافرمانه نه ده (۴) اودخاوند په دغه دعوه کولو سره چه هنده بدچلنه سوى ده اوپه عدالت کي ددي

(۱) فتاوى قاضى خان باب النفقه مصرى ج۱ ص۳۲۱. ظفير

(۲) هدايه باب النفقة ج۲ ص۴۱۸. ظفير

(۳) والنفقة لا تصير دينا الا بالقضاء او الرضاء (الدرالمختار على هامش رد المحتار باب النفقة ج۲ ص۹۰۲. ط. س. ج۳ ص۵۹۴). ظفير

(۴) فتستحق النفقة بقدر حالهما الخ ولو هى فى بيت ابيها اذا لم يطالبها الزوج بالنقلة به يفتى (الدر المختار على =

موافق په فیصله کیدوسره پرهنده باندي طلاق واقع نه سو او هندي ته په موجوده حالت کي دویمه نکاح ناجائز ده او مهر موجل دطلاق ځخه بغیر نه سي اخستي. فقط

چه کمه زنانه دخپل خاوند سره نه اوسیږي دهغې نفقه واجب نه ده: **سوال**: (۱۳۵۱) دزید منکوحه دزید په کورکي نه اوسیږي او دشنیع کار مرتکب ده ددي خرڅ او خوراك دزید پرذمه واجب دی اوکه نه؟

جواب: چه کمه ښځه دخاوند په کور کي نه اوسیږي او نافرماني کوي هغه ناشزه او نافرمانه ده دداسي ښځي خرڅ او خوراك دخاوند دذمې ځخه ساقطیږي په درمختار کي دي: لانفقة لاحد عشر الی ان قال وخارجة من بیته بغیر حق وهی ناشزة الخ (۱) او په درمختارکي یی دا لیکلي دي چه که چیري دیو سړي ښځه فاجره وي نو هغی ته طلاق ورکول واجب نه دي البته که چیري هغه باوجود دپوهه کولو او تنبیه کولو سره سمه نه سي او دخپلو حرکاتو ځخه منع نه سي نو بیا طلاق ورکول پکار دي لیس علی الزوج تطلیق الفاجرة (۲). فقط

دتیرو سوو کلونو نفقه پرخاوند باندي واجب نه ده: **سوال**: (۱۳۵۲) دزید او هندي په کم عمری کي ددوی والدینو نکاح وکړه دنکاح ځخه دولس کاله وروسته دهندي مور هندي ته رخصتي ورکړه دوې یا یوه میاشت وروسته یې هنده بیا بوتله اوس په دویم ځل چه کله دزید خپلوان دهندي دراوستلو دپاره ولاړل نو اوس ددي والدین وایی چه ددولسو کالو نفقه چه دزید پرذمه ده هغه ادا کړي نو بیایي بیولی سی نو آیا په دي صورت کي پرزید باندي دتیرو سوو کلونو نفقه واجبیږي اوکه نه اوکه واجب وي نو پوره اوکه نیمه؟

جواب: په درمختار کي دي: لا تصیر النفقة دینًا الا بالقضاء او الرضاء الخ (۳) یعني نفقه دتیری سوی زماني دخاوند پرذمه نه واجبیږي دقاضي دحکم ځخه بغیر یا درضامندي ځخه بغیر ددي وجي دهندي والدین ددولسوکالو نفقه دزید ځخه نه سي اخستي او دا عذر ددوي به مسمموع نه وي اوکه هنده دخاوند درضا ځخه بغیر دوالدینو سره اوسي نو دا به ناشزه وي آینده نفقه به هم دخاوند دذمې ځخه ساقطه سي. فقط

که دمهر دادایګی طاقت نه وي نو مهلت دي ورکړل سي او نفقه واجب ده: **سوال**: (۱۳۵۳) دیوي زنانه او نارینه نکاح وسوه چه ددوی مهر مبلغ یو زر روپی مقرر کړل سو په دي

= هامش رد المحتار باب النفقة ج۲ ص۸۸۹. ط. س. ج۳ ص۵۷۴). ظفیر

(۱) الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب النفقة ج۲ ص۸۸۹ - ۸۹۰. ط. س. ج۳ ص۵۷۶. ظفیر

(۲) ایضا باب المحرمات ج۲ ص۴۰۲. ط. س. ج۳ ص۵۰. ظفیر

(۳) الدر المختار علی هامش رد المحتار باب النفقه ج۲ ص۹۰۷. ط. س. ج۳ ص۵۹۴. ظفیر

غرض سره چه پرخاوند باندي زور وي بي بي دخپل خاوند كور ته ولاړه دمهر ادا كولو طاقت يې نسته او بي بي معاف كول نه كوي په دي صورت كي مسئله څه اجازت وركوي؟ بغير دصفايي دمهر څخه دواړو اوسيدل شروع كړل او تمام خرڅ خاوند برداشت كړي نو په دي صورت كي پرزنانه باندي دسود ګناه خو نسته يا خو به سود نه ورته ويل كيږي؟

جواب: چه كله په خاوند كي قدرت او وسعت دمهر ادا كولو نسته نو دلته به شرعًا اجازت وركول كيږي لكه څه رنګه چه الله تعالي فرمايلي دي: وان كان ذو عسرة فنظرة الى ميسرة (۱) الايه، او دمهر دقرض دادا كولو څخه بغير او دمعاف كولو څخه بغير دخاوند خرڅ او خوراك وركول خيلى بي بي ته سود نه دي بلكه په نفقه نه وركولو سره به خاوند ګناهګار وي ځكه چه دخاوند پرذمه دمهر دقرض څخه علاوه دبي بي خرڅ او خوراك هم واجبيږي (۲) او پر خاوند باندي دزور اچولو دوجي هم زيات مهر مقرر كول جائز دي. فقط

<u>دعدت نفقه پرخاوند واجب ده</u>: **سوال**: (۱۳۵۴) زيد هندي ته طلاق وركړى او دخرچي په عدت كي وعده دادايګي كوي ليكن وعده يې خلاف ده چونكه ملازم كسبكار سړي دي ددي وجي دملازمت رقم خپله وصولوي آيا زيد په داسي كار باندي مجبوريدى سي اوكه نه؟

جواب: پرزيد باندي دعدت نفقه واجبه ده او چه كله په زيد كي دادا كولو طاقت او وسعت سته نو دي به يې پر ادا كولو باندي مجبوره كيږي. (۳)

<u>كونډه ښځه چي كور خرڅ كړي نفقه اخستي سي</u>: **سوال**: (۱۳۵۵) ديوي كونډي ښځي خاوند څه جايداد پريږ ايښى دي نقد يې هيڅ نه دي پريږ ايښى آيا كونډه مكان خرڅ كړي يا يې په ګروي وركړي خپله ګزاره په كولي سي اوكه نه؟ كه چيري كونډي ته دزكات روپى وركړل سي نو جائز دي اوكه نه؟

جواب: دمكان ګروي ساتل او خرڅول دواړه جائز دي شرعًا په هيڅ كار كي ممانعت نسته ليكن مشوره دا ده كه چيري في الحال دخرڅ ضرورت وي او دا اميد وي چه كم وخت دجايداد آمدني راسي نوپه دغه آمدني سره به دمكان ګروي خلاصه كړل سي نو مكان په ګروي وركولى سي كه مكانات متعدد وي، اوكه چيري مكان يو وي نو بيا مكان دي په

---

(۱) سورة البقرة ايت نمبر ۲۸۰ ركوع ۳۸. ظفير

(۲) النفقة واجبة للزوجة على زوجها الخ اذا سلمت نفسها الى منزله (هدايه باب النفقه ج۲ ص۴۱۷). ظفير

(۳) اذا طلق الرجل امرأته فلها النفقة والسكنى فى عدتها رجعيا كان او بائنا (هدايه باب النفقه ج۲ ص۴۲۳). ظ

ګروي کي نه ايږدي اونه دي خرڅوي بلکه دڅنګل مځکه دي ګروي کښيږدي يا دي خرڅه کړي دضرورت په اندازه. فقط

قد تم الجوء الحادى عشر بعون الله تعالى وتوفيقه في شهر ذى القعده سنة اربع مائة والف على يد العبد الضعيف محمد ظفير الدين المفتاحى الذى فوض اليه الترتيب والتحشية تحت اشراف صاحب الفضيلة حكيم الاسلام مولانا القارى محمد طيب دامت فيوضه رئيس الجامعة الاسلاميه دارالعلوم ديوبند وياتى الجزء الثانى عشر ان شاءالله تعالى

وصلّى الله تعالى على أشرف رسله وخاتم أنبيائه سيدنا وحبيبنا ومولانا محمّد وعلى آله واصحابه اجمعين .

التاریخ

الاربعاء، ۲۶ جمادی الاولی، ۱۴۳۰

کمپوزنګ

القاري عبد الاحد الحيدري الحقاني



فتاویٰ دارالعلوم دیوبند

مدلل و مکمل

پښتو

۱۲



دموجوده وخت په دار الافتآء کی دمروجه نسخو مطابق، دنوی تخریج سره اعلیٰ کمپوټری چاپ

فتاویٰ دار العلوم دیوبند

مدلل و مکمل

په آسانه او روانه کندهاری پښتو

دولسم جلد ۱۲

الأيمان، القصاص والحدود ، السير ، اللقطة

تالیف: مفتی اعظم عارف بالله حضرت مولانا مفتی عزیز الرحمٰن صاحب عثمانی رحمه الله
((ددار العلوم دیوبند اول مفتی))

په لار ښوونه د: حکیم الاسلام حضرت مولانا قاری محمدطیّب صاحب رحمه الله (مهتمم دارالعلوم دیوبند)

مرتب: مولانا محمد ظفیر الدین صاحب، رفیقِ شعبۂ ترتیبِ فتاویٰ دار العلوم دیوبند

اضافه تخریج جدید: مولانا مفتی محمد صالح، رفیقِ دارالافتآء جامعة اسلامیه، بنوری ټاؤن کراچی

زباړه ، تعلیق او تحقیق: مولانا الحافظ محمّد أحمد الحقاني الأفغاني، فاضلِ حقانیه، پشاور

زیرِ نګراني: شیخ الحدیث حضرت مولانا الشیخ عبد القادر النهرکاریزي (دامت بر کاتهم العالية)

مکتبه حبیبیه

کاسی روډ، کوئټه : 0812662448

al-ilmcorp@hotmail.com

لومړی چاپ

۱۴۲۹ شعبان \ اګست 2008

Maktabah Habibiyah	مکتبه حبیبیه
Publishing Organization	**خپروندویه ټولنه**

Arg Bazar, Kandahar, Afghanistan. Mob : 0799447413 : ارګ بازار کندهار ، افغانستان ، ګرځنده تلیفون

Kasi Road, Quetta, Pakistan . Phone : 0812662448 : کاسي روډ ، نزد مسجد نور ، کوئټه ، تلیفون شمیره

AL-ILM Computers, Quetta. Mob: 03218016371 :العلم کمپیوټرز، کوئټه پاکستان، ګرځنده تلیفون شمیره

دفتاوٰی دار العلوم دیوبند مدلّل او مکمل (پښتو) دمضامینو فهرست، جلد ۱۲

مخ	مـضـمـو ن
۲۰	او که نه؟
۲۰	دقسم څخه وروسته یې چه کله دقسم خلاف کار وکړي نو کفاره به راځي
۲۱	دیوقصاب په کورکي یې دغوښي نه خوړلو قسم وکی که چیري دده غوښه په بل کور کي وخوري نو څه حکم دي؟
۲۱	دپخو سوو غوښو په خوړلو سره هم کفاره ستنه
۲۱	دغریب دپاره کفاره ستنه اوکه نه؟
۲۱	چا چه قسم ونه کړی پرهغوی کفاره نستنه
۲۲	یو سړي وویل که چیري داسي مي وکړل نو دامت محمدي څخه به وتلی یم قسم وسو
۲۲	قسم یې وکړی چه په فلانۍ ورځي باندي به قرض ادا کوم
۲۳	په زړه کي قسم وکړي نو دهغي په خلاف کولو سره نه حانث کیږي
۲۳	دقرآن قسم خوړل
۲۳	دکار خیر د پاره قسم اخیستل څنګه دي
۲۴	چه پیغمبر هم راسي دا کار به ونه کړم قسم نه دي
۲۴	دخبرو نه کولو حلف یې واخیستی نو څه به کوي؟
۲۴	قسم وکړي چه زه به واده نه کوم اوس واده کول غواړي نو څه به کوي؟
۲۵	که چیري داسي وسوه نو داسلام څخه به خارج سم دا حلف دی
۲۵	په قسم ماتولو سره کفاره راځي
۲۶	قسم یې وکړی چي فلانی کار به نه کوم اوس یې کول غواړي نوڅه به کوي؟
۲۶	که دبکر یوشی مي وخوړی نو دخنزیر غوښه به خورم
۲۶	زنانه قسم وخوړی چه کور به خرابوم نو د غه زنانه دي ددي کفاره ورکړي
۲۷	دشرط دوجی یې قسم وکړی نو په شرط ختمیدو سره قسم نه ختمیږي
۲۷	قسم یې وکړی چه کله یې وینا وکړه نو حانث به وي
۲۷	زید قسم وکی چه فلاني شی به فلاني ته نه ورکوم لیکن فلاني ته یې په خوشحالۍ ورکړی څه حکم دي؟
۲۸	که چیري خوراك مي وکړی نو خنزیر به خورم، په دې ویلو سوه قسم نه کیږي
۲۸	درواجونو دپرینښودلو قسم یې وکړی بیا یې ادا کړه نوکفاره به پر راځي
۲۸	قسم یې وکړی چه دشپې به دخپلي بي بي سره نه ملاویږم بیا یوځای سو

ددولسمی حصې فهرست ختم سو



بسم الله الرحمٰن الرحيم

الحمد لله رب العالمين والصلاة والسلام علىٰ سيد المرسلين وعلىٰ آله وصحبه اجمعين.
دخاکسار مرتب زړه دڅښتن ﷻ په حمد او شکر خړوبه دی او تندی یې درب العالمین په وړاندي پر سجده دی چي هغه په خپل خاص فضل او پیرزوینې سره ددې جوګه کړم، او ما غوندي ناپوه او ظلوم شخص یې دفتاوی دار العلوم دیوبند دترتیب، تزئین او تحشیې پر لوی خدمت باندي ولګوی. فالحمد لله حمدا کثیرا
دفتاوی دار العلوم دیوبند دولسم جلد نن دلوستونکو په خدمت کي وړاندي کیږي، زړه مي اطمینان او خوښي احساسوي، او بې واکه دا مصرۍ دقلم پر ژبه باندي راځي:

شادم از زندگی خویش که کارے کردم

خوشحاله یم په خپل ژوندون چي یو کار مي پکښې وکی.
په همدې جلدکي دکتاب الأيمان والنذور، کتاب القصاص، کتاب الحدود، کتاب السیر او کتاب اللقطة په اړوند هغه ټولي مسئلې او احکام موجود دي کم چي ددار العلوم دیوبند په رجسټر سوي فتاوی کي درج دي.
ترتیب کوونکي دمخکي په څېر په دې جلد کي هم دترتیب، تزئین او تحشیې په مرحلو کي دخپل وس مطابق هیڅ کوتاهي نه ده کړي، هسي خو خطا او هیره په انساني خمیره کي اخښل سویده که یو ځای نه یوځای تېروتنه سوي وي نو الله ﷻ دي معافي وکړي.
دالله تعالی ﷻ احسان او شکر دی چي دفتاوی دار العلوم دیوبند دا سلسله په اهلِ علم کي په زړه پوري ده، او اسلامي نړۍ ورڅخه بشپړه ګټه ترلاسه کوي، او داسي به ولي نه وي په داسي حال کي چي ددې فتاوی وجامعۀ اسلامیه دار العلوم دیوبند غوندي علمي او تعلیمي اداري ته، او ددې مدرسې دمفتي اعظم عارف بالله حضرت مولانا مفتي عزیز الرّحمٰن عثماني قدس سرّہ ولوري ته دمنسوب کیدو شرف ورپه برخه دی.
دفتاوی چي کمه برخه پاتي ده دالله تعالی ﷻ څخه راته دعا وغواړی چي دهغې دتزئین ، ترتیب ، تحشیې او اشاعت توفیق هم راپه برخه کړي او موږ یې ژر تر ژره ستاسي درنو لوستونکو په خدمت کي وړاندي کړو .
دلته دخپلو استاذانو، دشعبي دمشر اوغړیو، اودشورٰی دمجلس په بابرکت خدمت کي دتشکر او احسان ډالۍ وړاندي کول خپله فریضه ګڼم چي ددوی په ښوونه، تربیت، پاملرنه، او مرسته سره دا کار سرته ورسیدي، اوپه راتلونکي کي به هم ان شاء الله ترسره کیږي.

ددې فتاوٰی څخه دګټه اخيستونکو څخه غوښتنه ده چې ددار العلوم دتحفظ، ساتنې او بقا لپاره، او ددې خاکسار دصلاح او فلاح لپاره دعاوې وکړي. په آخر کې رب العزة ﷻ ته لاس پورته کوم چې داکوچنی خدمت قبول کړي او دخاکسار ترتيب کوونکي لپاره يې دآخرت توښه وګرځوي. رَبَّنَا تَقَبَّل مِنَّا اِنَّكَ اَنْتَ السَّمِيْعُ الْعَلِيْمُ، آمين يَا رَبَّ الْعٰلَمِيْنَ.

ددعا غوښتونکی:

مُحمَّد ظَفِيْرُ الدِّين غفر له

دفتاوی دار العلوم ديوبند ترتيب کوونکی

۱۰\۱۱ذي القعدة\کال ۱۴۰۲ هـ ق





الحمد لله رب العلمين والصلوة والسلام على سيد المرسلين وعلى آله وصحبه اجمعين.

كتاب الايمان

دقسم خوړلو او دهغه دکفارې سره متعلق احکام او مسائل

حلف په قرآن باندي جائز دي اوكه نه؟ سوال: (۱) پر قرآن مجيد باندي لاس ابښودل يا په لاس کي اخيستل ديو امر يا نهي په کولو يا پريښودلو مثلاً دلمونځ يا روژي په پابندی کولو، دنشه خوري يا خُمار څخه دځان دمنع كولو لپاره قسم او عهد کول يا بل چاته يې ورکول شرعًا درست دي اوكه نه؟ زيد وايي چه نفس كلام الله مخلوق نه دي ليكن قرآن په دغه حروفو او صورت سره مخلوق دي ددي وجي دا غير الله دي او په غير الله قسم خوړل شرك دي كه څه هم چه قسم كيږي بكر وايي چه نه شرك دي او نه بدعت او نه حكم دي او نه منع بلكه ترغيب الي الامر والنهي عن المنكر دي ددي وجي ښه دي، تاسو يې مدلل بيان كړئ !

جواب: اقول قال فی ردالمحتار ونقل فی الهنديه عن المضمرات وقد قيل هذا فی زمانهم اما فی زماننا فيمين وبه ناخذ ونامر ونعتقد وقال محمد بن مقاتل الرازی انه يمين وبه اخذ جمهور مشائخنا اهـ فهذا مؤيد لكونه صفة تعورف الحلف بها كعزة الله وجلاله الخ [1] نو معلومه سوه چه حلف بالقرآن متعارف دي اودا داسي دي لكه حلف بعزة الله، نو شرك او بدعت ويل ديته صحيح خبره نه ده او دګناه په پريښودلو باندي عهد اوپيمان كول او بل لره يې وركول عمده كار دي او دجنازي لمونځ دهر مسلمان بد وي كه ښه وي ادا كول پكار دي الا ما استثناه الفقهاء لقوله عليه السلام صلوا على كل برو فاجر الحديث.

<u>قسم يې وكی كه چيري په زيد مي ظلم وكی نوكافر به سم شرعًا ددي څه حكم دي</u>؟ سوال: (۲) يو سړي قسم وكی چه پر زيد به ظلم او حق تلفي به يې نه كوم كه ومي كړه نوزه به كافر او دشفيع المذنبين دشفاعت څخه به بري يم نوكه چيري په زيد باندي هغه ظلم يا حق تلفي يې وكړي نو ددغه قسم په وجه دي كافر سو او دشفيع المذنبين دشفاعت څخه محروم سو اوكه نه؟

جواب: دا قسم دي چه دحنث په صورت كي يې پرده كفاره لازميږي [2] دده په كفر كي دحنث په صورت كي اختلاف دي واضح دا دی چي نه كافر كيږي، فی الدرالمختار

---

[1] ردالمحتار كتاب الايمان مطلب فی القران ج۳ ص۷۰ ط. س. ج۳ ص۷۱۳. ظفير

[2] وتعليق الكفر بالشرط يمين وسيجيئ انه ان اعتقد الكفر به يكفر لا يكفر (درمختار) بالتشديد ای تلزمه الكفارة (ردالمحتار كتاب الايمان مطلب فی القران ج۲ ص۷۱. ط. س. ج۳ ص۷۱۴). ظفير

والاصح ان الحالف لم يكفر سواء علقه بماض او آت ان كان عنده فی اعتقاده انه يمين الخ ([1]). فقط

په قرآن مجيد دقسم خوړلو څخه دانکار په صورت کي څه حکم دي؟ **سوال**: (۳) دخلافت کميټی څخه يو څو ممبران ددي دپاره اخذ کړل سوه چه دلمانځه دادا کولو تأکيد وکړي ليکن شرط دا وو چه دټولو ممبرانو دمقرر کولو څخه مخکي خپل لاس په مبارك مصحف قرآن مجيد سره مزين کړي او قسم وکړي چه په دي امر کي به دخپلوانو رعايت نه کوي يو سړي په دي اعتراض کوونکي دي او مخالف دي ددې په نسبت شرعاً څه حکم دي؟

جواب: معترض او مخالف په دغه کار خير کي په ښکاره خطا اوسخت گناهگار دي ددې څخه دې توبه وکړل سي.

په ايمان قسم کول څنگه دي؟ **سوال**: (۴) دمسلمان دايمان قسم کول جائز دي اوکه نه؟

جواب: قسم په الله تعالي کول پکار دي دالله تعالي څخه علاوه په ايمان يا قرآن وغيره باندي قسم نه دي کول په کار. ([2])

قسم يې وکی او په نکاح کي دوکه وسوه نو څه حکم دي؟ **سوال**: (۵) لس مياشتي وسوي چه ما ديوي زنانه سره نکاح کړيده دزنانه ورور دنکاح څخه مخکي ماسوا دتعريف څخه نور څه ظاهر نه کړل درخصت څخه وروسته معلومه سوه چه زنانه بالکل شله مجبوره او دواړه لاسونه او پښې يې بيکاره دي، په مخصوص اندام کي يې دهډوکو دوجي ددخول گنجائش نسته ۵۰۰ روپۍ مهر مقرر کړل سوي وو او دنکاح په وخت ما قسم کړي وو چه طلاق به نه ورکوم په داسي حالت کي که چيري طلاق ورکړل سي نو څه حکم دي ځکه چه ماته دوکه راکړل سوه نو نکاح وسوه اوکه نه؟

جواب: په دي صورت کي نکاح وسوه اودوطي کولو څخه بغير دطلاق ورکولو په صورت کي نيم مهر دخاوند پرذمه لازم دي، او دطلاق نه ورکولو يې چه کم قسم کړي وو دمذکوره ضرورت په وجه او دمذکوره حالت دوجي ددي قسم ماتول جائز دي ليکن دقسم کفاره به لازميږي. ([3])

([1]) وګورئ: الدرالمختار على هامش ردالمحتار كتاب الايمان ج۳ ص ۷۵. ط. س. ج ۳ ص ۷۱۸. ظفير

([2]) لايقسم بغير الله تعالى كالنبى والقرآن والكعبة (درمختار) اى لا ينعقد القسم بغير الله تعالى غير اسمائه وصفاته بل يحرم (ردالمحتار كتاب الايمان ج ۳ ص۷. ط. س ج۳ ص ۷۱۲). ظفير

([3]) فانه يجب فيما اذا حلف على طاعة ويحرم فيما اذا حلف على معصية ويندب فيما اذا كان المحلوف عليه جائزا (ردالمحتار كتاب الايمان ج۳ ص۲۳. ط. س. ج ۳ ص۷۰۴) وفيه الكفارة ان حنث (ردالمحتار ج ۳ =

دبي بي سره ديوې وجي څخه دهمبسترئ نه کولو قسم خوړل: **سوال**: (۲) که چيري يو سړي په خپل زړه کي قسم وخوري چه صبا زه دخپلي بي بي سره ديوې وجي څخه غصه سم او قسم وکړم چه همبستری به نه کوم ليکن دخپلي بي بي په خواهش سره همبستر سي نو شرعًا څه حکم دي؟

جواب: چه تر څو پوري په ژبه سره ويلي دقسم الفاظ مات نه کړي نو دقسم کفاره پرده باندي نه راځي. ([1])

دان شاء الله سره دقسم خوړلو حکم: **سوال**: (۷) زما پلار زما څخه دچرګ نه خوړلو عهد واخيستی ما په دي الفاظو سره عهد وکی چه ان شاء الله زه به چرګ نه خورم نو اوس ماته چرګ جائز دي اوکه نه؟

جواب: جائز دی ځکه چه په ان شاء الله ويلو سره قسم نه کيږي دا دي ډير ښه وکړل چه انشاء الله دي ووايه. ([2])

قسم وکړي چه فلاني کار به نه کوم او بيا يې وکړي نو څه حکم دي؟ **سوال**: (۸) که چيري يو سړي داسي قسم وکړي او عهد وکړي چه اي الله ﷻ زه ستا په ذات بابرکت قسم کوم او وايم که چيري زه په فلاني کارکي خپل عهد مات کړم نو ما په دوزخ کي واچوه اوپه دين اودنيا کي مي هميشه ذليل او خوار کړي او خپل وهل راکړي او مردود مي کړي او زما دعا هيڅکله هم قبوله نه کړي او زه آسمان او ځمکه او ملائکي ګواه جوړوم او وايم چه زه به خپل عهد هيچيري نه ماتوم اوبيا هغه مات کړي نو ددي حشر به څه وي او ددي کفاره به څه وي؟

جواب: په دي صورت کي که چيري دغه سړي دغه عهد مات کړي نو دقسم کفاره پرده باندي واجب ده ([3]) يعني په لس مسکينانو باندي به دوه وخته خوراك خوري يا لسو مسکينانو ته به کپړي وراغوندي اوکه چيري دا ونه کړي نو دري روژی دي متواتري ونيسي. ([4])

= ص۲۲۲ ط. س. ج ۳ ص۷۵۸). ظفير

([1]) وركنها اللفظ المستعمل فيها (الدرالمختار على هامش ردالمحتار كتاب الايمان ج ۳ ص۲۳). ظفير

([2]) وصل بحلف انشاء الله بطل يمينه كذا يبطل به اى الاستثناء المتصل كل ما تعلق بالقول عبادة اومعاملة (الدر المختار على هامش ردالمحتار كتاب الايمان ج ۳ ص ۹۸. ط. س. ج۳ ص۷۴۲). ظفير

([3]) وفيه الكفارة ان حنث (الدرالمختار على هامش ردالمحتار كتاب الايمان ج ۳ ص۲۲. ط. س. ج ۳ ص ۷۰۸). ظفير

([4]) وكفارته تحرير رقبة او اطعام عشرة مساكين كمامر فى الظهار وكسوتهم بما يصلح للاوساط وينتفع به فوق ثلاثة اشهر ويستر عامة البدن (ايضا ج ۳ ص ۸۲. ط. س. ج ۳ ص ۷۲۲ – ۷۲۵). ظفير

نابالغ هلک چه قرآن پورته کړي نو ددي څه حکم دي؟ **سوال**: (۹) يو نابالغ هلك په ريل كي بي ټكټه سفر كوي كه چيري دده يو عزيز دده څخه قران شريف پورته كړي او دده سره لوبي وكړي نودي به ګناه ګار وي اوكه نه؟

جواب: دي به ګناه ګار نه وي.

دشريعت په يو كار باندي دخاندان والاو څخه عهد اخيستل: **سوال**: (۱۰) دخاندان والا وجرګي ته دا ووايي چه كلمه ولوله ددې څخه وروسته وويل سوه كه چيري زما دا حكم څوك مات كړي نو هغه دي دالله او رسول څخه واوړي داسي ډول قسم كول جائز دي اوكه نه؟

جواب: كه چيري دشريعت په كار باندي داسي عهد واخلي چه څوك دشريعت دا حكم مات كړي نو هغه ګويا دالله او رسول مخالف دي نو داجائز دي ليكن دخاندان په حكم باندي مطلقا داسي عهد اخيستل درست نه دي كه دغه حكم دشريعت موافق وي او كه نه ددي تعميل به وكړي او چه څوك دغه حكم مات كړي هغه دالله او رسول مخالف دي نو داسي عهد اخيستل درست نه دي.

دغير الله قسم څنګه دي: **سوال**: (۱۱) دالله تعالي څخه علاوه دبل يو شي قسم خوړل مثلاً دهلك يا قرآن مجيد وغيره قسم خوړل صحيح دي اوكه نه داسي قسم خوړونكي به مشرك وي اوكه نه؟

جواب: دغير الله قسم خوړل حرام دي لكه دزوی يا پلار وغيره قسم خوړل (۱) البته دقرآن شريف قسم خوړل مشهور سوي دي لهذا دا معتبر دي او قسم كيږي، فى الدر المختار قال الكمال ولا يخفى ان الحلف بالقران الآن متعارف فيكون يميناً الخ فقط. (۲)

دمواريثو دقسم پر وارثانو باندي اثر پريوزي اوكه نه؟ **سوال**: (۱۲) يوه محله چي په هغې كي دشيخ قومونه اوسيږي او په دوی كي دوې ډلي سوي وی هرو دواړو ډلو دا تجويز وكی چه ټولي ډلي يو سي او هيڅ اختلاف په خپلو كي پاته نه سي. په هر حالت كي هر سړي په واده اوښادي كي شريك اوسي او په دي وعدي باندي دپابندي دپاره دټولو په لاس كي يې قرآن شريف وركړی دا قسم واخستل سو چه خانداني رسومات دي پريښودل سي چه كمو سړيانو حلف كړی وو اوس دهغوی څخه يوڅو كسان پاته دي باقي وفات سوي دي، يو سړی دا مخالفت وكی چه خلاف دخپل ګروپ دطرف څخه يې په مقدماتو كي

(۱) لا يقسم بغير الله تعالى (درمختار) اى لا ينعقد القسم بغيره تعالى الخ بل يحرم (ردالمحتار كتاب الايمان ج ۳ ص ۷۰ ط. س. ج ۳ ص ۷۱۲). ظفير

(۲) الدر المختار على هامش ردالمحتار كتاب الايمان ج ۳ ص ۷۰. ط. س. ج ۳ ص ۷۱۲. ظفير

تابعداري شروع کړه ددغه سړيانو وارثانو چه کومو قرآن شريف پورته کړي وو او حلف يې کړي وو دا وويل چي تر اوسه پوري مونږ دخپل مواريثو دحلف پابند اوسيدو ليکن ددغه حلف اوعهد پابندي په مونږ باندي نه عايد کيږي آيا دا صحيح ده او چه کم خلق په حلف کوونکو کي دژوند په قيد سره دي پردوي باندي دحلف پابندي لازمه ده اوکه نه؟

جواب: دمواريثو دحلف په وارثانو باندي هيڅ اثر نه عائد کيږي البته چه کم خلق دغه حلف کوونکو کي بقيد حيات دي هغه که خپل حلف او قسم مات کړي نو پردوی به کفاره لازمه سي ([1]) ليکن دا ضروري نه ده چه دکفاري لازميدو په وجه هغه خلق گناه گار هم سي او په آخرت کي مواخذې والاهم وي بلکه په بعضي اوقاتوکي دحلف ماتول ضروري کيږي ([2]) لکه څه رنگه چي خپله نبي ﷺ په بعضي اوقاتو کي ديو کار په کولو باندي قسم کړي دي اوبيا دهغې په خلاف کي دوی ﷺ ته بهتري معلومه سوي ده نو دوی ﷺ دغه قسم مات کړي دي او کفاره يې ورکړيده او دغه رنگه دوی نورو ته هم حکم فرمايلی دي چه په تاسو کي که چيري يو کس په يوکار باندي حلف وکړي او بيا دهغه په خلاف کي خير معلوم سي او دغه خلاف کار دثواب وي نو قسم دي مات کړی او چه کم کار په شريعت کي دثواب موجب او بهتر وي هغه دي وکړي نوکه چيري ددغه سړي څخه يو کار دشريعت خلاف سوي وي نو ددي وجي څخه يې دهغه سره متارکت کړي وي نو دا ښه کار دی په دي کي گناه نسته اوحلف کوونکي دي دقسم کفاره ورکړي. ([3]) فقط

دجايداد نه اخيستلو قسم يې وکی تر وارث جوړيدو وروسته څه وکړي؟ **سوال**: (۱۳) يو سړي دخپل پلار سره جگړه او فساد وکی او حلف يې وکی که چيري ما ستا دجائيداد څخه څه وخوړل نو زه به دنبي ددين څخه خارج يم اوس دده دپلار انتقال وسو نو دحلف څخه دبري کيدو څه صورت دي او دجائيداد دميراث کيدو څه صورت دی؟

جواب: په دي الفاظو سره قسم کيږي ([4]) لهذا که چيري ددغه جائيداد څخه څه واخلي او

([1]) وهذا القسم فيه الكفارة ان حنث (الدرالمختار على هامش ردالمحتار الايمان ج۳ ص ۲۲. ط. س. ج ۳ ص ۷۰۸). ظفير

([2]) ومن حلف على معصية كعدم الكلام مع ابويه اوقتل فلان الخ وجب الحنث والتكفير لانه احوط الامرين الخ (ايضا ج۳ ص۸۵. ط. س. ج ۳ ص۷۲۸). ظفير

([3]) وهذا لا قسم فيه الكفارة ان حنث (ايضا ج۳ ص۲۲. ط. س. ج ۳ ص۷۲۸). ظفير

([4]) وبرى من الله وبرى من رسوله يمينان الخ وبرى من الاسلام او القبلة اوصوم رمضان اوالصلواة الخ يمين لانه كفر وتعليق الكفر بالشرط يمين (الدرالمختار على هامش ردالمحتار كتاب الايمان ج۳ ص ۷۱. ط. س. ج ۳ ص ۷۱۳) . ظفير

وې خوري نو دقسم کفاره به ورکوي او دحنث په صورت کې دده په کفرکې اختلاف دې، لهذا احوط خبره دا ده چه دې داسلام تجدید وکړې، په در مختار کې دي: والقسم ایضاً بقوله ان فعل کذا فهو یهودی او نصرانی الخ او کافر فیکفر بحنثه (۱). فقط

بل چا قسم ورکړی چه ته به دا کار کوې او هغه ونه کړی نو څه حکم دې؟ **سوال**: (۱۴) رشید حمید ته وویل چه په الله قسم ته به دا کار کوې اوس که چیرې حمید دا کار ونه کړې نو رشید به حانث وي او که نه؟

جواب: رشید به حانث وي. (۲) فقط

په کلمه لوستلو او قسم کولو سره قسم کیږي او که نه؟ **سوال**: (۱۵) یو سړي په دې طریقه قسم وکی لا اله الا الله محمد رسول الله، الله ګواه دې که چیرې زه دا کار وکړم نو به درسول الله ﷺ دشفاعت څخه نا امیده یم بیا ددغه کار مرتکب سو نو په دې صورت کې ددغه سړي دپاره شرعًا څه حکم دې؟

جواب: په درمختار کې دي چه په دې الفاظو سره قسم نه کیږي او صحیح دا ده چه دغه سړی به کافر کیږي لیکن په دې کې ګناه سته لهذا توبه او استغفار دې وکړي وفیه اشهد الله لا افعل ویستغفر ولا کفارة وکذا اشهدك واشهد ملائکة لعدم العرف الخ وفی انا برئ من الشفاعة لیس بیمین لا منکر من مبتدع لا کافر الخ. (۳) فقط

که فلانې کار وکړم نو دالله تعالي ددیدار څخه به محروم سم او بیا یې وکی نو څه حکم دي؟ **سوال**: (۱۶) دغه سړي دا عهد وکی که چیرې داوس څخه زه بدکار وکړم نو دالله تعالي دیدار او دمحمد رسول الله ﷺ شفاعت دې ماته نصیب نه وي والعیاذ بالله تعالی او په دواړو جهانونو کې دې زه تور مخي سم څه وخت وروسته هغه کار ده وکړی نوڅه حکم دی؟

جواب: په درمختار کتاب الایمان کې دي وفی انا برئ من الشفاعة لیس بیمین الخ (۴) ددې روایت څخه معلومه سوه چه په پوښتنه کې په مذکوره الفاظو سره قسم نه منعقد کیږي نو لهذا ددغه کار دکولو په وجه کفاره واجبه نه سوه آئنده ددغه قسم الفاظو دویلو

(۱) الدرالمختار علی هامش ردالمحتار کتاب الایمان ج۳ ص۷۳. ط. س ج۳ ص۷۱۶، قوله فیکفر بحنثه ای تلازمه الکفارة اذا حنث ای قاله بتحریم الحلال لا نه لما جعل الشرط علما علی الکفر وقد اعتقده واجب الامتناع وامکن القول بوجوبه بغیره جعلنا یمینا نهر (ردالمحتار ج۳ ص۷۵. ط. س. ج ۳ ص۷۱۸). ظفیر

(۲) وفیه الفارة ان حنث (الدر المختار علی هامش رد المحتار کتاب الایمان ج۳ ص۶۲. ط. س. ج ۳ ص ۷۰۸). ظفیر

(۳) الدر المختار هامش ردالمحتار کتاب الایمان ج۳ ص۷۶. ط. س. ج ۳ ص ۷۱۸. ظفیر

(۴) الدرالمختار علی هامش ردالمحتار کتاب الایمان ج۳ ص۷۶. ط. س ج۳ ص ۷۱۹. ظفیر

څخه احتراز او إجتناب كول پكار دي، او دزړه په صدق سره ددغه قبيح فعل څخه په اخلاص سره توبه كول په كار دي او آئنده ددغه بد عمل څخه ځان ژغورل پكار دي. فقط

دخنزير خوړولو څخه يې قسم وكړي اوبيا يې مات كړي نوڅه حكم دي؟ **سوال**: (۱۷) يو سړي دخپل اكا څخه خفه دي اكا دده رضا كول وغوښتل نو ده قسم وخوړی كه چيري زه ولاړم نو خنزير به خورم اوس كه چيري دی داكا خبره ومني نو دقسم په باره كي به څه كوي؟

جواب: دا قسم نه دي سوي ليكن ددي خبرې دويلو ګناه وسوه وكذلك ان قال ان فعلت كذا فانا زان او شارب خمر او آكل ميتة فليس بحالف (۱). فقط

زيد دزړو روژو نيولو قسم وكړي نو څه به كوي؟ **سوال**: (۱۸) څه فرمائي علماء دين اومفتيان دشرع متين په دي مسئله كي چه زيد دبكر څخه مال غلا كړی بكر ده ته قسم وركي او زيد قسم وخوړي كه چيری ما غلا كړي وي نوپه ما دي زر روژي فرض او واجب وي آيا دشرع په نزد پرده باندي زر روژې واجبيږي اوكه نه دغه رنګه كه چيري دآئنده په باره كي قسم وكړي يعني كه چيري زه ستا مال غلا كم نو پرما دي زر روژې واجب وي.

جواب: په دواړو صورتونو كي به روژه فرض وي كذا يفهم من الدرالمختار: لا مؤاخذة فيها الا فى ثلث طلاق وعتاق ونذر، اشباه، وان علقه بما لم يرده كان زينب لفلانة مثلاً فحنث درمختار ج۳ ص۹۴. (۲) فقط

داسي ويل كه چيري داسي مي وكړل نو دخپل پلار څخه به نه يم قسم نه دي: **سوال**: (۱۹) كه داسي ووايي كه چيري زه ستا كورته درغلم نو دخپل پلار څخه به نه يم بلكه ديوچا خاكروب څخه به يم كه چيري ولاړ سي نوكفاره لازمه ده اوكه نه؟

جواب: په دې كی هيڅ كفاره نسته تلل يې صحيح دي. فقط

كورته دنه راتلو قسم يې وكی او سامان يې وليږی نو حانث نه سو: **سوال**: (۲۰) دزيد اودده دخواښي ترمينځ څه اختلاف راغی زيد په غصه كي خپلي خواښي ته وويل كه چيري زه ستا كورته راغلم ياكار مي وكی نو زما بي بي دي پرما حرامه وي، حرامه وي، حرامه وي، دري ځله يې وويل بيا زيد خپل كور ته ولاړی چه كله دزيد بي بي دخپلي موركره بيماره سوه نو زيد ديو سړي څخه تعويذ راوړی او بل يو چاته يې وركړی چه زما خواښي

---

(۱) ايضا ج۳ ص۷۸، هو يستحل الدم او لحم الخنزير ان فعل كذا لا يكون يمينا لان استحلال ذلك لا يكون كفرا (ردالمحتار ج۳ ص۷۸. ط. س.ج۳ ص۷۲۱). ظفير

(۲) الدر المختار على هامش ردالمحتار كتاب الايمان ج۳ ص۲۴. ط. س. ج۳ ص۷۰۲. ظفير

ته یې ورکړه او یوه هندوانه (تربوز) یو سړي زید ته ورکړه چه ته یې خپلې خواښې ته ورکړه زید دغه هندوانه بل یو سړي ته ورکړه چه زما خواښې ته یې ورکړه پوښتنه ددې خبرې ده چه زید په دغه کارونو حانث سو اوکه نه؟ او دده پربېي بې باندې درې طلاقه واقع سول اوکه نه؟

جواب: په دې صورت کې زید حانث نه سو ځکه چه زید دخپلې خواښې کورته نه دی راغلی اونه یې دهغې په وینا سره څه کار کړی دی. (۱)

که داسي وکړم نو دالله او رسول څخه به جلا یم، دا ویل قسم دی: **سوال**: (۲۱) یو سړي نذر وکی که چیري فلاني شي واخلم نو دالله او رسول ﷺ څخه به جدا یم او دغه سړي پردغه شي باندي قائم سو دده دپاره په شریعت کي څه حکم دی؟

جواب: که چیري دغه سړي هغه کار وکی چه دکم دپرېښودو قسم یې کړی وو نو پرده باندي دقسم کفاره واجب ده (۲) او دقسم کفاره غلام ازادول یا لسو مسکینانو ته خوراك ورکول یا کپړې ورکول دي که چیري نه سي کولی نو دري ورځي روژې پر له پسي نیول په کار دي (۳) او آینده دي داسي قسم نه خوري. فقط

په ناجائز خبره باندي حلف اخیستل درست نه دي لیکن په قسم ماتولو سره به کفاره وي:

سوال: (۲۲) ځلوېښت پنځوس کسانو په دې خبره باندې قسم وکی چه هفته هفته به غله باسو او خرڅوو به یې او جمع کوو به یې او چه څوك ددې جماعت څخه مړ سو یا دچا عزیز مړ سي نو ددغه روپیو څخه په یو معین مقدار باندي دهغه په ګور او کفن باندي به خرچ کول کیږي اوپه ټول کال کي چه څومره روپۍ جمع سي نو دیولسمي په موسم کي دلوی پیرصاحب یولسمه به کول کیږي په دې خبره باندي قسم خوړل او اصرار کول څنګه دی اوکفاره لازمه ده اوکه نه؟

جواب: په دې خبره باندي قسم ورکول او قسم خوړل حرام دي او داسي قسم خوړل هم حرام دي او دغه قسم ماتول په کار دي اصرار کول په داسي قسم باندي ناجائز دي (۴) او دقسم کفاره ورکول لازمه ده (۵) والتفصیل فی کتب الفقه.

---

(۱) چه زید دقسم څخه خلاف څخه دي کړي نو پرهغه باندي دطلاق واقع کیدو صیح پوښتنه هم نه پیدا کیږي. ظ

(۲) وبری من الله وبری من رسوله یمینان (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار کتاب الایمان ج ۳ ص ۷۱ ط. س. ج۳ ص ۷۱۳). ظفیر

(۳) وکفارته الخ اطعام عشرة مساکین او کسوتهم الخ وان عجز عنها کلها الخ صام ثلاثه ایام ولاء (ایضا ج ۳ ص ۸۲. ط. س. ج ۳ ص ۷۲۵). ظفیر

(۴) من حلف علی معصیّة الخ وجب الحنث والتکفیر لانه اهون الامرین (ایضا ج۳ ص ۸۵. ط. س. ج۳ ص۷۲۸).

(۵) وفیه الکفارة الخ ان حنث (ایضا ج۳ ص۶۲. ط. س. ج۳ ص۷۰۸). ظفیر

دحيوان دشيدو دخوړلو څخه چه کله قسم واخستل سي نو په غوړو وغيره خوړلو سره حانث کيږي: **سوال**: (۲۳) زيد وويل چه زه به ددغه ميښي شيدې نه خورم او څه شرط يې ونه لګوی آيا دزيد دپاره ددغه ميښي غوړي خوړل جائز دي اوکه نه؟ او ترکمه پوري يې شيدې څښل جائز نه دي؟ يعني صرف ددغه وار لنګيدو اوکه هميشه دپاره او ددې مذکوره ميښي کړي شيدې په شرط دژوند جائز دي اوکه نه؟

جواب: غوړي خوړل يې درست دي او ددي لوشلي شيدې هم جائز دي صرف ددي په شيدو څښلو سره به کفاره لازمه سي يعني يو ځل به کفاره راسي بيابه جائز سي. ([1]) (چي کله يې څه شرط نه کړل نو قسم نه سو او ددي په وجه په خوراك سره به حانث نه سي، ظفير). فقط

يو مزارته تګ دقسم په انکارسره انکار نه دي: **سوال**: (۲۴) بنده په خپل زوم باندي دعوي وکړه دزنا کولو ليکن ګواه يې معتبر ورنه کړی قاضي دحلف دپاره پرمدعي عليه باندي دا فيصله وکړه چه دفلاني فقير په مزار باندي حلف وکړي چه ما دخپلي خواښې سره زنا نه ده کړي مدعي عليه انکار وکی چه زه دفقير مزار ته نه ځم په دي انکارسره دقسم څخه انکار وسو اوکه نه؟

جواب: دا انکار حلف نه دي ځکه چه دالله تعالي په نوم باندي قسم کولو ته هغه تيار دي او دفقير مزار ته ببول او قسم کول لغوه دی، ددې څخه انکار کول دحلف څخه انکار نه دي.

دحلف څخه وروسته په دعوی کی زيادت جائز نه دی: **سوال**: (۲۵) په عدالت کي حلف هم کيږي عدالت وايي چه په حلف سره ووايه چه ستا دعوي صحيح ده که چيري يوه روپي يا دوې روپی زياتي کړي او دعوي وکړل سي نو دا حلف به رښتيا وي اوکه دروغ؟

جواب: دا حلف به دروغ وي دزيات دعوه نه دي کول پکار ([2]) البته دسرکښی اوتمرد په صورت کي مديون ته چه کمه خرچه دعدالت څخه ورکول سي هغه درسته ده چه ددې خرچي په سبب مديون سرکښ سوي دی، او دده دسرکښي او دقرضی دنه ادا کولو په وجي سره نالش دائر کړل سوي دي. فقط

په لاس کي په قرآن ورکولو او حلف ورکولو سره حلف کيږي: **سوال**: (۲۶) که چيري يو مسلمان سړي په يوه معامله کي يو مسلمان ته دقرآن شريف حلف ورکړي په دي طريقه

([1]) غموس تغمسه فی الاثم ثم النار وهی کبيرة ان حلف علی کاذب عمداً الخ کوالله مافعلت کذا علما بفعله الخ ياثم بها فتلزمه التوبة (الدرالمختارعلی هامش ردالمحتارکتاب الايمان ج۳ ص۴۶. ط. س. ج۳ ص۷۰۵). ظفير

([2]) ردالمحتار کتاب الايمان ج۳ ص۷۰. ط. س. ج ۳ ص۷۱۳. ظفير

چه داظهار په وخت دهغه په لاسونو كي قرآن شريف كنبيږدي آيا په دي طريقه حلف كيږي اوكه نه؟

جواب: په درمختاركي دي: وقال العينى وعندى ان المصحف يمين لا سيما فى زماننا قوله وقال العيني عبارته وعندي لو حلف بالمصحف او وضع يده عليه وقال وحق هذا فهو يمين ولا سيما فى هذا الزمان الذى كثرت فيه الايمان الفاجرة ورغبة العوام فى الحلف بالمصحف الخ (۱) ددي حاصل دا دي چه په دي زمانه كي قرآن په لاسونو كي كينبودل او حلف وركول قسم دي يعني په دي سره قسم كيږي او ديمين احكام ددي سره متعلق كيږي الخ. فقط

چه كله دقسم خلاف يې په هره وجه سره وكړي نو كفاره به وي: **سوال**: (۲۷) عمر قسم خوړلي وو چه زه به فلاني كور ته نه ځم نه به هلته خوراك كوم ليكن دعمر مور دى مجبوره كړى او دغه كور ته يې بوتلى او هلته يې ورباندي خوراك هم وكى اوس آئنده عمر هلته تلي سي اوكه نه او دعمر خوځه گناه ونه سوه او كفاره به څه وي؟

جواب: قسم مات سوي دي او دقسم كفاره لازمه ده اوس آئنده هلته تگ درست دي قسم پوره سوي دي اوگناه هيڅ نسته صرف كفاره لازمه ده او دقسم كفاره داده چه يو غلام آزاد كړي يا لس مسكينانو ته دوه وخته خوراك وركړي يا لس مسكينانو ته كپړې يوه يوه جوړه وركړي اوكه چيري داسي نه سي كولي نو درې ورځي متواتري روژي دي ونيسي.

دقسم په خلاف كولو سره كفاره لازمه ده: **سوال**: (۲۸) زيد قسم وكى ددي كار څخه چه زه به دبكر سره هيڅ كله خبرى نه كوم بيا دڅه ضرورت دوجي زيد دبكر سره خبرى وكړي نو دزيد قسم صحيح گڼل په كار دي دقسم كفاره خو ضرور پرده واجبه ده؟

جواب: دقسم كفاره دزيد پرذمه واجبه ده او آئنده خبري كول پكاردي. (۲)

په قرآن سره قسم وركول درست دي: **سوال**: (۲۹) په قرآن شريف سره قسم وركول جائز دي اوكه نه؟ په تقدير داول سره څوك جاهل بي نمازه چه داودس او غسل څخه محضي ناخبره وي قرآن شريف وركول او قسم وركول جائز دي اوكه نه؟

---

(۱) ولا يحنث فى حلفه لا ياكل من هذا البسم اوالرطب اواللبن باكل رطبة وتمره وشيرازه لان هذا صفات داعية الى اليمين (درمختار) لان هذه صفات الخ (ردالمحتار باب اليمين فى الاول ج۳ ص۱۲۱). ظفير

(۲) ومن حلف على معصية كعدم الكلام مع ابويه الخ وجب الحنث والتكفير وحاصله ان المحلوف عليه اما فعل اوترك وكل منهما اما معصية وهى مسئلة المتن او واجب الخ وهو اولى من غيره او غيره اولى منه كحلفه على تركه وطى زوجته شهرا ونحوه حنثه اولى الخ (الدر المختار على هامش ردالمحتار كتاب الايمان ج۳ ص۸۵. ط. س. ج۳ ص۷۲۸) وفيه الكفارة ان حنث (ايضاً ج۳ ص۲۲. ط. س. ج۳ ص۷۰۸). ظفير

جواب: قال فى الدرالمختار قال العينى وعندى ان المصحف يمين لاسيما فى زماننا وعند الثلثة المصحف والقران كلام الله يمين وفى الشامى نقلا عن الهنديه عن المضمرات وقد قيل هذا فى زمانهم اما فى زماننا فيمين وبه ناخذ ونامر ونعتقد وقال محمد بن مقاتل الرازى انه يمين وبه اخذ الجمهور مشائخنا اه فهو مؤيد لكونه صفة تعرف الحلف بها كعزة الله وجلاله الخ ددې څخه معلومه سوه چه قسم ورکول په قرآن شريف سره جائز دي. فقط

چه کله دقسم مطابق يې ادا نه کړي نو کفاره به وي: **سوال:** (۳۰) زيد پر عمر باندي دډګرئ اجرا وکړه عمر څه روپۍ نويد ته ورکړي دمابقي په اړه يې زيات مهلت وغوښتی زيد په الله تعالي قسم وخوړی او دا يې وويل چه زه به صبا مطالبه وکړم ليکن بعضو داصرار او مجبورئ په وجي سره دخپل قسم په خلاف عمر ته يې مهلت ورکول منظور کړل په دي صورت کي به پرزيد باندي دقسم کفاره څه وي؟

جواب: په دي صورت کي دقسم کفاره دزيد پرذمه لازمه ده. ([1]) فقط

وفيه الكفارة ان حنث (الدرالمختار على هامش ردالمحتار كتاب الايمان ج۳ ص۲۲، ط. س. ج۳ ص۷۰۸). ظفير

دکفاره ادا کولو څخه وروسته قسم باقي نه پاته کيږي: **سوال:** (۳۱) ما ديو شي داستعمال څخه تړول عمر قسم کړي وو چه زما دپاره ددغه شي استعمال دټول عمر دپاره حرام دي بيا پاته نه سوم او استعمال مي کړی حانث سوم دا قسم زما څخه منتهي سو اوکه نه يعني دکفاري ورکولو څخه وروسته هم دمذکوره قسم په وجه سره استعمالول به حرام وي او که نه؟

جواب: قسم منتهي سو دکفارې څخه وروسته بيا ددي په استعمال سره به حنث نه وي.

دشفاعت څخه محروميدل يمين نه دي: **سوال:** (۳۲) زيد او عمر قسم وخوړی او دا معاهده يې وکړه چه موږ به هيچري تعلق نه پريکوو که چيري موږ په خپلوکي تعلق پريکړو نو زموږ دي دقيامت په ورځ درسول الله ﷺ شفاعت نصيب نه سي، که چيري دغه دواړه اوس تعلق پريکول غواړي نو په دوی دواړو باندي کفاره لازمه ده اوکه نه؟

جواب: قال فى الدرالمختار وفى انا برئ من الشفاعة ليس بيمين لان منكرها مبتدع لا كافر الخ. ([2]) نومعلومه سوه چه په سوال کي مذکوره صورت يمين نه دي اوپه دي باندي کفاره نه لازميږي. فقط

([1]) وتنحل اليمين اذا وجد الشرط مرة (الدرالمختار على هامش ردالمحتار باب التعليق ج۲ ص ۲۸۸. ط. س. ج۳ ص۳۵۵). ظفير
=

قسم پلار وخوړي نو دزوی په خلاف ورزي سره قسم نه ماتيږي: **سوال**: (۳۳) زيد قسم وخوړی که چيري زه دخپل حقيقي ورور بکر سره دزمکي په کاروبار کي شريك سوم نو زما ښځه دي په دري طلاقو طلاقه وي اوس څه وخت وروسته هغه خپله نه بلکه دهغه زوي چه ځوان دي دپلار دوينا څخه بغير دخپل اکا سره دځمکي په کاروبار کي شريك سو او پلار ده ته هيڅ ونه ويل ددغه هلك په شرکت سره به پلار حانث وي اوکه نه؟

جواب: دزوی په شرکت سره دپلار قسم نه ماتيږي او هغه نه حانث کيږي (١) کذا في کتب الفقه.

دچاسره چه يې دعدم شرکت قسم خوړلی وو دهغه دزوی په شرکت سره حانث کيږی نه:

سوال: (۳۴) زيد اوعمر دواړه وروڼه په عقد مزارعت کي شريك وه زيد په څه خبره باندي خفه سو او وې ويل که چيري زه ستا په ژوند کي ستا سره شرکت وکړم نو زما بي بي ته دي دري طلاقه وي، ددوو کالو څخه وروسته عمر خپل وراره بکر خپل شريك جوړ کړی او دزيد زوی بکر ځوان دي ليکن تابع دپلار وي، نوڅه حکم دی؟

جواب: زيد به په دې صورت کي حانث نه وي کما فی ردالمحتار: وفی الکبيرين لا يحنث الا بالمباشرة لعدم ولاية عليهما فهو کالاجنبی عنهما فيتعلق بحقيقة الفعل الخ (٢) ص١١٨ باب اليمين فی البيع والشراء نومعلومه سوه چه بالغ زوی دپردي په شان دي نو دزوی شريکول دپلار شريکول نه دي نو لهذا دزوی په شريکولو سره پلار نه حانث کيږي.

دقسم کفاره ورکول اودهغه په خلاف کارکي شرکت: **سوال**: (۳۵) زيد او عمر دواړه حقيقي وروڼه دي، ددوی پلار وفات سوي دي صرف مور يې ژوندی ده دعمر دواده تاريخ مقرر سوي دي دزيد جګړه دوه ځله دمور سره دواده دسامان پر اخيستو باندي وسوه، زيد دواړه ځله دغصې په حالت کي قسم وکی او وی ويل چه زه به هيڅکله دورور يعني عمر په واده کي شرکت ونه کړم په دي باندي يې مور هم وويل چه زه به هم نه شريکيږم نو زيد په کم صورت سره په واده کي شريکدي سي؟ او که دقسم څه کفاره وي نو څه ده؟ دواده څخه مخکي يا وروسته هم دکفاری ادائيګي کيدي سي؟

جواب: زيد دي دقسم کفاره ورکړي (٣) اوپه واده کي دي شريك سي او دقسم کفاره دا ده

---

(٢) الدرالمختار علی هامش ردالمحتار کتاب الايمان ج٣ ص٧٢ ط. س. ج٣ ص٧١٣. ظفير

(١) ولا تزر وازرة وزر اخرٰی (سورة النجم). ظفير

(٢) وګوری: ردالمحتار باب اليمين فی البيع والشراء مطلب لا يتزوج ج٣ ص١٢٢. ط. س. ج٣ ص٨١٥. ظفير

(٣) من حلف علی معصية الخ وجب الحنث والتکفير وحاصله ان المحلوف عليه اما فعل او ترك وکل منهما =

چه په لسو مسکینانو باندي دي خوراك وخوري یا دي دوي ته کپړې ورکړي او دغلام دازادولو ددي وجي څخه دذکر کولو ضرورت نسته چه غلامان دلته نسته بیا که چیري دخوراك یا کپړې لسو مسکینانو ته دورکولو طاقت نه وي نو دري روژې دي پرله پسي ونیسي دا دقسم کفاره ده اوکفاره دقسم دماتولو څخه وروسته واجبیږي [۱] په واده کي دشریکیدلو څخه مخکي کفاره نه ادا کیږي. [۲]

داسي ویل که چیري داسي وکړم نوخپله مور به دفن کړم قسم نه دي: **سوال**: (۱/۳۶) دیو کار دپاره که چیري یو سړی خپله سزا مقرره کړي مثلاً دا ووایي که چیري زه فلاني کار وکړم نو داسي سوه لکه چه خپله مور مي دفن کړه بیا که چیري هغه دغه کار وکی نوڅه کول په کار دي څه کفاره ددي سته اوکه نه؟

داسي ویل که چیري داسي وکړم کلام الله مي دي ووهي: **سوال**: (۲/۳۶) اوس ده په مسجد کي په دي خبرو باندي قرآن شریف پورته کړی که چیري زه لمونځ پرېږدم او دروغ ووایم او غیبت وکړم او دخپلي منکوحی بي بي څخه علاوه بله یوه په ناجائزه طریقه اختیار کړم نو موږ دي کلام الله ووهي او موږ دي ددین او دنیا په هیڅ ځای کي پاته نه سو او موږ وعده کوو او قرآن شریف پورته کوؤ چه دا کارونه به دآئنده دپاره نه کوم اوکه دچا څخه څه کار دعهد خلاف وسو نو دهغه کفاره سته اوکه نه اوس ده ته څه په کار دي؟

جواب: په اول صورت کي هیڅ کفاره وغیره نه لازمیږي لیکن په دویم صورت کي که چیري ددغه کارونو څخه یوکار وکړي نو دقسم کفاره دي ورکړي [۳] یعني لسو محتاجو ته دي خوراك ورکړي دوه وخته دي یې ماړه کړي یا دي دوی ته کپړې ورکړي اوکه چیري دا نه سي کولي نو دري روژې دي پر له پسي ونیسي.

که داسي مي وکړل نو دالله تعالي او رسول څخه به لیري یم ویل قسم دي: **سوال**: (۳۷) زید خپل مکان دبکر په لاس خرڅ کړی زید دچا قرضدار وو هغه بکر تړول پرخپله ذمه ولیکل او وعده یې وکړه چه په کمه ورځ زما نوم رجسټر کړي نو هغه وخت به باقي روپی ادا

= اما معصیة او واجب وبره فرض او هو اولی من غیره او غیره اولی منه الخ وحنثه اولی (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار کتاب الایمان ج ۳ ص۷۲۸). ظفیر

(۱) وکفارته الخ اطعام عشرة مساکین اوکسوتهم الخ وان عجز عنها کلها الخ صام ثلثة ایام ولاءاً (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار کتاب الایمان ج۴ ص۷۰۸). ظفیر

(۲) ولم یجز التکفیر ولو بالمال قبل حنث (درمختار) لان الحنث هو السبب کما مر فلا یجوز الا بعد جوده (ردالمحتار کتاب الایمان ج۳ ص۸۴. ط. س. ج۳ ص۷۲۷). ظفیر

(۳) وفیه الکفارة الخ ان حنث (درمختار. ط. س. ج۳ ص۷۰۸). ظفیر

كوم زيد ټول منظور كړل دوه دري ورځي وروسته زيد بكر ته دمكان وركولو څخه انكار وكى نو بيا بكر ټول مسلمانان راجمع كړل عذر يې وكى چه ماته دي خپل مكان راكړي مسلمانانو زيد ته غيرت او شرم ورمخكي كړى چه مسلمان يې نو داسي مه كوه زيد وويل كه چيري بكر ماته شپاړس روپۍ نورى راكړي نوكه چيري زه خپل مكان دبكر څخه علاوه دبل چا په لاس خرڅ كړم نو زه به دالله او رسول څخه ليرى يم او دقيامت په ورځ دي زما مخ دخنزير وي بيا بكر زيد ته شپاړس روپۍ نورى منظوري كړي دوې دري ورځي وروسته زيد دخپلي وعدي څخه بيا واوښتى او مكان يې دبل چا په لاس سره خرڅ كړى او دهغه په نوم يې رجسټر كړى اوس په زيد باندي دقسم كفاره واجبه ده نو څه ده او زيد ګناه ګار سو اوكه نه كه چيري وي نه څه كول په كار دي؟

جواب: بي شكه زيد ګناهګار سو توبه دي وكړي او دقسم كفاره دي ادا كړي. ([1]) دقسم كفاره دا ده چه لسو مسكينانو ته خوراك يا كپړي وركړي يا غلام ازاد كړي ليكن دا صورت خو اوس نه سي كيدي صرف دخوراك او كپړي صورت كيدي سي. اوكه چيري دخوراك او دكپړي طاقت يې نه وي نو دري ورځي پرلپسي دي روژه ونيسي ([2])

دالله تعالي په روى وركولو سره قسم نه كيږي: **سوال**: (۳۸) اكثر زنانه په كوچنى كوچنى خبرو كي وايي دالله په روى مونږ به ستا سره خبرى نه كوو كه چيري مي وكړى نولس ورځي دي بيا نه ومينم دا جمله په قسم كي داخله ده اوكه نه او ددي كفاره څه ده اوكه چيري څو څو ځلى دا جمله ويل سوي وي نو يوه كفاره به وركول وي اوكه متعدد او كه چيري دغه جمله په قسم كي داخله نه وي نو كفاره وركول او قسم ماتول په كار دي اوكه دقسم پابندي كول لازمي دي اوپه كفاره وركولو او قسم ماتولو كي ګناه سته اوكه نه؟ په ماتولو كي په داسي حال چه ديوه مسلمان سره ددريو ورځو څخه زيات خفګان ساتل نه دي په كار؟

جواب: دا كلمات په قسم كي داخل نه دي كفاره وغيره هيڅ نسته ([3]) اوكه چيري بالفرض

([1]) وفي البحر ما يباح للضرورة لا يكفر مستحله كدم خنزير (درمختار) هو يستحل الدم ولحم الخنزير ان فعل كذا لا يكون يمينا لان استحلال ذلك لا يكون كفرا الخ (ردالمحتار كتاب الايمان ج۳ ص۷۸. ط. س. ج ۳ ص۷۲۱). ظفير

([2]) وكفارته تحرير رقبة او اطعام عشرة مساكين اوكسوتهم بما يصلح للاوساط رينفع به فوق ثلثه اشهر ويستر عامة البدن الخ وان عجز عنها كلها وقت الاداء الخ صام ثلثة ايام ولاء (الدرالمختار على هامش ردالمحتار كتاب الايمان ج۳ ص ۸۲. ط. س ج۳ ص۷۲۵). ظفير

([3]) وقوله حقا وحق الله وحرمته الخ لايكون قسما لعدم التعارف (الدر المختار على هامش ردالمحتار كتاب الايمان ج۳ ص۷۷. ط. س. ج ۳ ص۵ ۷۲). ظفير

داسي قسم وخوړل سي نو هغه ماتول په کار دي (١) اوپه کفاره کي تداخل هم کيدي سي.

ملازم ته قسم ورکول او ملازم ساتل څنګکيه دي؟ **سوال**: (۳۹) ملازم ته قسم ورکول او عهد کول چه هيڅ قسم نافرماني او قصور به نه کوم او سستي وغيره به نه کوم اوټول عمر به ستا تابعداري او ملازمت کوم وغيره نوداسي قسم حلف کول اوملازمت کول څنګه دي؟

جواب: که چيري دخادم او ملازم په هغه عهد باندي چه دکم په بابت سره حلف اخستل کيږي دپابندئ نيت او اراده ده او دده آقا او مخدوم دحلف څخه بغير په ملازم کولو نه راضي نه کيږي نو بيا په داسي صورت کي دحلف کولو او حلفيه عهدنامه تحرير کولو هيڅ نقصان نسته ليکن په داسي عهد اوپيمان کي انشاء الله ويل ضروري دي چه ددغه صورت دوقوع په خلاف ګناه ګار نه سي.

په لړ لړ ورکولو سره هم کفاره ادا کيږي: **سوال**: (۴۰) که چيري يو سړي دقسم کفاره په تراخي سره په داسي طريقې سره ادا کړي چه نن يې څه ورکړل او څه يې هفته دوې هفتې وروسته مسکينانو ته ورکړل آيا کفاره به ادا سي؟

جواب: جدا جدا ورکول درست دي په دي شرط چه لسو مسکينانو ته ورسيږي يا يوه مسکين ته ترلسو ورځو پوري خوراك دوه وخته ورکړل سي يا نقد وغيره ورکړل سي. (٢)

دمالدار په کفاره کي روژې نيول کافي نه دي: **سوال**: (۴۱) دقسم په کفاره کي مالدار سړی روژې ونيسي نوکفاره ادا سوه او که نه؟

جواب: کفاره ادا نه سوه. (٣)

دمور په وينا سره کارکول په کار دي: **سوال**: (۴۲) يو سړي په غصه کي دا وويل چه زه به آچْکَنْ (يوډول مردانه جانکټ غوندي جامه) نه اغوندم که چيري دي هغه اوس وانه غوندي نو مور يې ناراضه کيږي آيا زيد لره دغه آچْکَنْ اغوستل جائز دي مور ناراضه کول نه دي په کار که څنګه؟

جواب: دي سړي لره دغه اچکن اغوستل پکار دی مور دي نه خفه کوي.

---

(١) ومن حلف على معصية الخ وجب الحنث والتكفير وحاصله ان المحلوف عليه اما فعل اوترك وكل منها اما معصية او واجب وبره فرض اوهو اولى من غيره او غيره اولى منه كحلفه على ترك وطى زوجته شهرا ونحوه حنثه اولى الخ (ايضا ج ۳ ص۸۵. ط. س. ج۳ ص۷۲۸). ظفير

(٢) وكفارته الخ تحرير رقبة او اطعام عشرة مساكين كما مر فى الظهار او كسوتهم (درمختار) قوله عشرة مساكين اى تحقيقا اوتقديرا حتى لو اعطى مسكينا واحدا فى عشرة ايام كل يوم نصف صاع يجوز الخ ولو عشاهم فى رمضان عشرين ليلة اجزاه اهـ (ردالمحتار كتاب الايمان ج۳ ص۸۲ – ۸۳. ط. س. ج ۳ ص۷۲۵). ظ

(٣) وان عجز عنها كلها وقت الاداء الخ صام ثلثة ايام ولاء (درمختار) قوله ان عجز قال فى البحر اشار الى انه لو كان عنده واحد من الثلاثة لا يجوز له الصوم (ردالمحتار كتاب الايمان ج۳ ص۸۴. ط. س. ج۲ ص۷۲۷). ظفير

یو سړي وویل که چیري ددغه باغ آم مي وخوړل نو خنزیر به مي خوړلي وي: سوال: (۴۳) زید خپل عزیز ته دتحفی په طور څه آمونه وغیره لیږل یوه ورځ په یوه خبره باندي دده عزیز غصه سو که چیري ما ددغه باغ آمونه وخوړل نو ما به خنزیر خوړلی وي اوس که چیري دغه سړي دهغه باغ آم یا دلاس تحفه راوړي او وې خوري نو آیا ددي به څه کفاره ورکول لازمي وي؟

جواب: که چیري دغه سړي ددغه باغ آمونه وخوړل نو دقسم کفاره ددي پرده باندي لازمه ده [1] یعني دلسو مسکینانو خوراك یا کپړې اوکه چیري دا نه سي کیدي نو دري ورځي متواتر روژه دي ونیسي.

په غلطه او ناجائزه خبره باندي دحلف اخیستو څخه بغیر ماتول صحیح دي مګر کفاره به ورکوي: سوال: (۴۴) یو سړي زما سره محبت شروع کړي وو اوپه مدرسه کي یې زه ونیولم او زما څخه یې کلام مجید مسجد ته یووړي او قسم یې راباندي وکی او دغه وخت نیك بخت معلومیدی خو اوس یې زه په تمام کلي کي بد نام کړم او ماته په چل او فریب سره مخامخ راځي که چیري زه دده سره یوځای سم نو سخت ګناهګار به سم اوکه چیري نه یوځای کیږم نو دقرآن مجید پورته کولو په وجه به ګناهګار خو نه سوم ددې څخه دجدائي فتوي بیان کړئ !

جواب: ددغه بدمعاش سره یوځای کیدل هیڅکله نه دي په کار او دحلف خیال نه دي کول په کار دداسي قسم ماتول ضروري دي [2] او دقسم کفاره ورکول په کار دي یعني دلسو مسکینانو خوراك دواړه وخته یا دي کپړه ورکړل سي که چیري دا نه سي کیدي او دخوراك ورکولو او کپړي ورکولو طاقت یې نه وي نو دري ورځي روژي متواتري ساتل په کار دي. [3]

په قسم ماتولو باندي کفاره سته: سوال: (۴۵) زید په یوه خبره باندي قسم وخوړی او بیا یې دهغی خلاف وکی بعضي خلقو ده ته داچاره ښودلي ده چه دقرآن پاك یو ختم وکړي

---

[1] وفی البحر ما یباح للضرورة لا یکفر مستحله کدم وخنزیر (درمختار) لایکون یمینا للشك لانه قد یکون استحلاله کفرا کما فی غیر حالة الضرورة فیکون یمینا وقد لا یکون کفرا کما فی حالة الضرورة فلا یکون یمینا فقد حصل الشك فی کونه یمینا (اولا کتاب الایمان ج۳ ص۷۸۷. ط. س. ج۳ ص۷۲۱) ددې څخه معلومه سوه چه په دې قول سره به قسم نه کیږي مفتي علام هم دا فتوي اول ورکړیده چي دلي په یو ځای کي درج ده. ظفیر

[2] ومن حلف علی معصیة الخ وجب الحنث والتکفیر الخ (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار کتاب الایمان ج۳ ص۸۵۵، ط. س. ج۳ ص۷۲۸). ظفیر

[3] وکفارته الخ تحریر رقبة او اطعام عشر مساکین او کسوتهم الخ وان عجز عنهما کلها وقت الاداء اوصام ثلثة ایام ولاء (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار کتاب الایمان ج۳ ص۸۲ – ۸۴. ط. س. ج۱ ص....). ظفیر

اوپه لسو مسکینانو باندي خوراك وکړي نوآیا په دغه ختم او مسکینانو ته په خوراك ورکولو سره کفاره کیدي سي اوکه نه؟

جواب: دا صحیح خبره ده چه که چیري قسم مات کړل سي نو کفاره ددي لسو مسکینانو ته دواړه وخته په مړه خیټه په خوراك ورکولو سره ادا کیږي (۱) او چه کمه ګناه دقسم په ماتولو سره وسوه هغه کفاره معاف کیږي. (۲)

قسم چه مات کړي نو کفاره به ورکوي: **سوال**: (۴۶) بعضي سړیان دهلکانو دنومونو درجسټر څخه دایستلو دپاره قسم ورکوي که چیري قسم پوره سو نو خپل نقصان دي اوکه چیري ونه کړل سي نو دآخرت خیال دي نو بیا څه کول په کار دي؟

جواب: چه کله یې وعده کړي ده چه رجسټر کي به نوم ورکوم او قسم یې خوړلی دی نو ددي خلاف دي نه وي او ددنیوي نقصان خیال دي نه کوي اوکه چیري خلاف یې وکی نو دقسم کفاره به ورکوي. (۳)

په قسم ماتولو سره نه منافق جوړیږي او نه دده بي بي طلاقیږي: **سوال**: (۴۷) یو شاګرد په یوه دنیوي معامله کي دخپل استاد سره قسم وکی بیا یې دڅه وجي څخه قسم مات کړی داستاد دحکم خلاف یې وکی اوس استاد صاحب پرشاګرد باندي حکم دمنافق کیدو اوپه ده پسي دلمونځ نه کیدو او دبي بي دطلاقیدو لګوي آیا دغه دري واړه کارونه پرده باندي عائد کیږي او که نه؟

جواب: دغه دري واړه امور هیڅ یو امر هم پرقسم ماتونکي باندي نه عائد کیږي دا داستاد صاحب افتراء او جهالت دي چه دمنافقت او دکفر حکم لګوي په قسم ماتولو سره به دقسم کفاره ورکوي اوتفصیل ددي دفقهی په کتابونو کي دی. (۴)

قسم یې وخوړی او ددي خلاف کار یې وکی نو کفاره به ورکوي کافر کیږي نه: **سوال**: (۴۸) یو سړي ملازم سو او داطمینان په وجه دا قسم یې وکی قرآن شریف یې په لاس کي واخیستی که چیري زه ستا دوینا موافق کار ونه کړم نو زه به نه دالله تعالي دیدار وکړم

(۱) وکفارته اطعام عشرة مساکین (درمختار) ای تحقیقاً او تقدیرا حتی لو اعطی مسکینا واحدا فی عشرة ایام کل یوم نصف صاع یجور الخ قوله کمامر فی الظهار فیعیشهم ویغدیهم (ردالمحتار کتاب الایمان ج۲ ص۸۳ – ۸۴ ط. س. ج۳ ص۷۲۵). ظفیر

(۲) وفیه الکفارة الخ ان حنث وهی ای الکفارة ترفع الاثم وان لم توجد منه التوبه عنها معها (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ج۳ ص۲۲. ط. س. ج۳ ص۷۵۸). ظفیر

(۳) وفیه الکفارة الخ ان حنث (ایضا. ط. س. ج۳ ص۷۰۸). ظفیر

(۴) وفیه الکفارة فقط ان حنث (الدر المختار علی هامش ردالمحتار کتاب الایمان ج۳ ص۲۲. ط. س. ج۳ ص۷۰۸). ظفیر

او نه به دحضرت محمد ﷺ شفاعت زما نصیب سي او زه به دالله او درسول ځخه واوړم اوس ده دخپل عهد خلاف وکی نو دغه سړي مسلمان پاته سو او که نه؟

جواب: دصحيح مذهب موافق دا سړي کافر نه سو ليکن دقسم کفاره دي ورکړي او توبه او استغفار دي وکړي او احتياطاً دي داسلام تجديد وکړي. (۱)

دا قسم خوړل چې فلاني راسي نو مسجد ته نه راځم ګناه ده: **سوال**: (۴۹) يو ځو کسانو دقسم په طور دا وويل که چيري دغه نشه کوونکی مسجد ته راغي نو موږ به دلمانځه دادا کولو دپاره مسجد ته هيڅکله نه راځو ددوی دپاره څه حکم دي؟

جواب: داسي حلف کول ګناه ده داسي حلف ماتول په کار دي او دقسم کفاره ورکول په کار دي او مسجد ته راتلل په کار دي. (۲)

دنه ليدو قسم يې وخوړی بيا يې ورسره وليده نو کفاره به ورکوي: **سوال**: (۵۰) يو سړی دبل سړي سره دنه ليدو په بابت قسم وخوړی چه اوس به ستا سره هيڅکله نه وينم که چيري ستا سره ووينم نو زما دي دالله تعالي ديدار او دمحمد ﷺ شفاعت نصيب نه سي بيا يې ددغه سړي سره وليده اوس قسم خوړونکي ته څه په کاردي؟

جواب: دقسم کفاره دي ورکړي يعني لسو مسکينانو ته دي دوه وخته خوراك ورکړي يا لسو مسکينانو ته کپړي يعني هر يوه ته دي پوره پوره جوړه ورکړي اوکه چيري ددي طاقت يې نه وي نو دري ورځې روژي دي پرله پسي ونيسي (۳) او توبه او استغفار دي وکړي.

دخوراك نه کولو يې چه کله قسم خوړلي وو او بيا يې خوراك وکی نو کفاره به وي: **سوال**: (۵۱) زيد دخوراك دقسم په باره کي ديوه قوم ځخه حلف وغوښتی او قوم هغه دزړه په خوشحالئ سره منظور کړی او قسم يې وکی چه موږ په الله تعالي قسم کوو چه دقصابانو سره ترجګړی او نرخ تر صفائي پوري غوښه اخيستل او خوړل پرموږ باندي حرام دي او په دي معامله کي هريو امر کلي او جزوي دټول قوم حليف وو، زيد مستحلف او نورو حلفاؤ دغيبت اودعدم مشوری ځخه دقصابانو سره بيع اوشراء شروع کړل اوس باقي قوم عمر او بکر حانث ګڼي او دقسم کفاره واجبه وايي دا صحيح ده اوکه نه؟

---

(۱) وفيه الكفارة ان حنث (ايضا) وفى انا برئ من الشفاعة ليس بيمين لان منكرها مبتدع لا كافر (ايضًا، ط. س. ج۳ ص۳۵۸). ظفير

(۲) ومن حلف على معصية الخ وجب الحنث والتكفير لانه اهون الامرين (الدرالمختار على هامش ردالمحتار كتاب الايمان ج۳ ص۸۵. ط. س. ج۳ ص۷۲۸). ظفير

(۳) وكفارته الخ اطعام عشرة مساكين اوكسوتهم بما يصلح للاوساط وينتفع به فوق ثلثة اشهر ويستر عامة البدن الخ وان عجز عنها كلها الخ صام ثلثة ايام ولاء (ايضا ج۳ ص ۸۲ - ۸۴. ط. س. ج۳ ص۷۲۵). ظفير

جواب: په دي صورت کي عمر او بکر بي شکه چه چا دقوم دمشوری څخه بغیر دقسم خلاف کړي دي حانث دي او دقسم کفاره پردوی باندي لازمه ده. ([1])

قسم وکړي چه دویم واده به نه کوم او بیا یې وکړي نو کفاره به ورکوي: **سوال**: (۵۲) ما قسم کړي وو چه دویم واده به نه کوم اوس دنارینه اولاد دنیستوالي په وجه دوهم واده کول غواړم نو شرعًا څه حکم دي اوکه چیري دویم واده وکړل سي نو عدل به څنګه قائم ساتو په حضر او سفر دواړو کي هم عدل ضروري دي اوکه نه؟

جواب: که چیري دویم واده وکړې نو دقسم کفاره به ورکوی چه لسو مسکینانو ته دوه وخته خوراك یا کپړې ورکول دي اوکه چیري دا ونه سي نو دري ورځي پرله پسي روژی نیول دقسم کفاره ده ([2]) او ددویمي نکاح څخه وروسته په هرو دواړو بیبیانو کي برابروالي کول په خوراك، کپړو، پروتي ناستي وغیره کي ضروري دي، په سفرکي اختیار دي چه کمه غواړی دځان سره یې ساته په سفر کي دبرابروالي ضرورت نسته او دکفاره ورکولو څخه وروسته په دویم واده سره هیڅ ګناه نه کیږي.

دنه ویلو قسم یې کړی وو اوبیا یې ویل وکړل نوحانث به وي: **سوال**: (۵۳) زید عمر ته یوه خبره وکړه ددې څخه وروسته یې په زور سره ورباندي قسم وکی په داسي طریقه چه اقرار وکړه که چیري ما داخبره چاته وکړه نو والله دقیامت په ورځ به دنبي ﷺ په امت کي نه پورته کیږم حالانکه زید قسم نه خوړی دڅه وجي څخه مجبور وو که چیري زید دغه خبره چاته وکړي نو حانث به وي او که نه؟

جواب: په دي صورت کي به زید حانث کیږي دقسم کفاره به ادا کوي. ([3])

دقسم په خلاف کولو سره کفاره به ورکوي: **سوال**: (۵۴) زید دعمر سره وعده وکړه چه زما او ستا ترمینځ چه کم خفیه راز دي که چیري بل چاته ددي اظهار وکړم نو زما دي په الله تعالي قسم وي، په یوه موقع باندي یې دا پټ راز نورو سړیانو ته اظهار کړی په دي صورت کي پرده باندي څه کفاره راځي؟

جواب: کفاره ددغه قسم داده چه غلام آزاد کړي یا لسو مسکینانو ته دوه وخته خوراك ورکړي یا کپړې ورکړي که چیري په دغه دري واړو کي هیـــڅ هم ونه سي نو دري ورځي

([1]) وفیه الکفارة إلخ ان حنث (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار کتاب الایمان ج۳ ص۷۲. ط. س. ج۳ ص۷۰۸). ظفیر

([2]) وکفارته الخ اطعام عشرة مساکین کما مر فی الظهار اوکسوتهم بما یصلح للاوساط الخ او ان عجز عنها کلها الخ صام ثلثة ایام ولاء (ایضا ج۳ ص۸۲ – ۸۴. ط. س. ج۳ ص۷۲۵). ظفیر

([3]) وفیه الکفارة الخ ان حنث (ایضًا ج۳ ص۷۲). ظفیر

متواتري روژي دي ونيسي ([1])

که چيري داسي مي وکړل نو ددين او ايمان څخه به خارج يم قسم دي: سوال: (۵۵) يو سړي قسم وکی که چيري تر لسمه دذي الحجه پوري مثلاً دخپلي بي بي سره جماع مي وکړه نو ددين او ايمان څخه به خارج يم او دلسمی دذي الحجي څخه مخکي ده جماع وکړه نو دي مسلمان پاته سو اوکه نه او څه کفاره لازمه ده اوکه نه؟

جواب: دغه سړي مسلمان پاته دي دقسم کفاره پرده لازمه ده ([2]) يعني په لسو مسکينانو باندي دي دوه وخته خوراك وکړي يا دي کپړي ورواغوندي اوکه چيري دانه سي کولي نو دري ورځي پرله پسي روژي به نيسي دا کفاره دهغه دقسم ده، په دغسی ويلو سره قسم کيږي نو لهذا دقسم کفاره پرده لازمه ده.

په غصه کي په قسم خوړلو سره هم قسم کيږي: سوال: (۵۶) يو سړي دغصی په حالت کي قسم وخوړی که چيري تا په ما پوري مذاق وکی نو زه به ستا سره هيڅکله خبره ونه کړم دخلاف کولو په صورت کي څه کول په کار دي؟

جواب: که چيري دغه سړي دخپل قسم خلاف وکی نو دقسم کفاره دده پرذمه لازمه ده ([3]) يعني په لسو مسکينانو باندي دي دوه وخته خوراك وکړي يا دي کپړي ورکړي اوکه چيري دا نه سي کيدي نو دري ورځي روژې به نيسي.

په قرآن قسم کول: سوال: (۵۷) په قرآن شريف قسم کول څنګه دي اوپه ده پسي لمونځ صحيح دي اوکه نه؟

جواب: په درمختار کي دي: لايقسم بغير الله تعالى كالنبى والقرآن والكعبة قال الكمال ولا يخفى ان الحلف بالقرآن الآن متعارف فيكون يمينا الخ ([4]) ددې څخه معلومه سوه چه په قرآن قسم نه دي په کار ليکن که چيري چا وکی نو منعقد کيږي او دحانث کيدو په صورت کي کفاره به لازميږي اوپه دغه مذکور حالف پسي لمونځ صحيح دی.

قرآن غير الله دی اوکه نه اوپه ده قسم څنګه دي؟ سوال: (۵۸) په غير الله قسم خوړل جائز نه دي آيا په غير الله کي قرآن داخل دي اوکه نه که چيري قرآن شريف دالله تعالي

([1]) وكفارته الخ اطعام عشرة مساكين كما مر فى الظهار او كسوتهم بما يصلح للاوساط الخ وان عجز عنها كلها وقت الاداء الخ صام ثلثة ايام ولاء (ايضا ج۳ ص۸۲ – ۸۴، ط. س. ج۳ ص۷۰۸). ظفير

([2]) برى من الاسلام او القبلة الخ يمين لانه كفر وتعليق الكفر بالشرط يمين (ايضا ج۳ ص۱۷) وفيه الكفارة فقط ان حنث ايضًا ج۳ ص۶۲. ط. س. ج۳ ص۷۲۵. ظفير

([3]) وفي الكفارة الخ ان حنث (ايضا ج۳ ص۶۲. ط. س. ج۳ ص۷۰۸) وكفارته الخ طعام عشرة مساكين كما فى الظهار او كسوتهم الخ وان عجز عنها كلها صام ثلثة ايام ولاء (ايضا ج۳ ص۸۲. ط. س. ج۳ ص۷۲۵). ظفير

([4]) وګورى الدر المختار على هامش ردالمحتار كتاب الايمان ج۳ ص۷۰، ط. س. ج۳ ص۷۱۲. ظفير

دصفاتو څخه ومنل سي لکه څنګه چه دصاحب دفتح القدير دعبارت څخه معلوميږي نو بيا په قرآن شريف په قسم خوړلوکي هيڅ قباحت نسته ليکن صاحب وقايه ليکي: ومن حلف بغير الله الغير الله كالنبى والقرآن والكعبة نو ددي عبارت مطلب څه دي؟

جواب: شامي دصاحب هدايي دعبارت: ومن حلف لغير الله تعالى لم يكن حالفا كالنبى والكعبة لقوله عليه الصلوة والسلام من كان حالفا فليحلف بالله او ليذر وكذا يفيد انه ليس قسم الحلف لغير الله تعالى بل هو من قسم الصفات ولذا علله بانه غير متعارف الخ دنقل کولو څخه وروسته فرمايي: فقوله وكذا يفيد انه ليس قسم الحلف لغير الله تعالى بل هو من قسم الصفات ولذا علله بانه غير متعارف الخ (١) نومعلومه سوه چه تحقيق دادي چه قرآن دي په غيرالله کي داخل نه کړي سي چه کله قرآن په معني دکلام الله دی نو صفت کيدل دده ښکاره دي او صفات لا هو ولا غيره دي، او صاحب دشرح وقايه او دغه رنګه دنورو فقهاؤ دغير الله په مثال کي قرآن بيانول بنا دي پرغير تحقيق باندي يا بنا دي پر قرآن په معني دمصحف اخيستو باندي لان المراد بالمصحف الورق والجلد، يا په دي بناء باندي چه قرآن حروف دي او حروف مخلوق دي وكل مخلوق غير الخالق ليکن تحقيق هغه دي چه مخکي وليکل سو. فقط

<u>که ستا دلاس څخه مي ډوډۍ وخوړه نو دوالدينو څخه مي وخوړه دا قسم نه دی</u>: **سوال**: (**۵۹**) زيد خپلي منکوحي ته په حالت دغصى کي دري ځلي دطلاق په نيت دا الفاظ وويل که چيري ستا دلاس څخه مي ډوډۍ وخوړه نو دخپلو والدينو څخه به مي خوړلي وي او دا الفاظ يې په عهد سره وويل په دي صورت کي دزيد پر بي بي باندي طلاق وسو اوکه نه او پر زيد باندي څه کفاره سته اوکه نه؟

جواب: په دي الفاظو سره دطلاق قسم ونه سو البته که چيري دقسم په طور داسي ووايي او بيا حانث سو نو دقسم کفاره دده پرذمه ده او دقسم کفاره دا ده چه لسو مسکينانو ته کپړي ورکړي يا خوراك ورکړي که چيري دا نه سي کيدي نو پرله پسي دي دري ورځي روژه ونيسي. (٢)

<u>کلمه طيبه ويل يا نبي عليه السلام ضامن کول ويل قسم نه دي</u>: **سوال**: (٦٠) يو سړي شيرسنګ نومي يو مسلمان ته چه چيلم يې څکوی دچيلم دپريښودلو دپاره معاهده ورکړه چه زه کلمه طيبه لولم او الله تعالي حاضر او ناظر ګڼم او نبي کريم ﷺ ضامن

---

(١) ردالمحتار ج٣ ص٧٠ كتاب الايمان مطلب فى القرآن ط. س. ج٣ ص٧١٢. ظفير

(٢) وكفارته تحريم رقبة اواطعام عشرة مساكين او كسوتهم بما يستر عامة البدن الخ وان عجز عنها وقت الاداء صام ثلثة ايام ولاء (الدرالمختار على هامش ردالمحتار كتاب الايمان ج٣ ص٩٢. ط. س. ج٣ ص٧٢٥). ظفير

درکوم او اقرارکوم چي آئنده به چیلم نه څکوم آیا دا صورت دقسم کیدي سي اوکه دمعاهدې که چیري معاهده کوونکي دا معاهده پریږدي او چیلم وڅکوي نو پرده باندي څه قسم کفاره یا څه تعزیر شرعي عائد کیدي سي؟

جواب: دا قسم شرعي نه سو اوپه خلاف کولو کي کفاره نه لازمیږي. قال فی الشامی عن الصیرفیة ولو قال علی عهد الله وعهد الرسول لا افعل کذا لا یصح لان عهد الرسول صار فاصلاً الخ. ([1])

کہ چیری دا مي وخوړل نو خنزیر به مي خوړلي وي قسم نه دي: **سوال**: (۲۱) دوه منګي رس (دانګورو شیره) یي دپخولو په غرض رس پخوونکي ته راوړل په کور کي یو سړي غصه سو او دا یې وویل که چیري دا ما وخوړل یا مي وڅیښل نو داسي سوه لکه چه خنزیر مي وخوړی اوس یې ددغه رس سرکه اېښوولي ده ته ددغه رس سرکه خوړل جائز دي اوکه نه او درس پخوونکي ته یي څه حکم دي ده ته یې خوړل هم جائز دي اوکه نه؟

جواب: په دي صورت کي قسم ونه سو ددغه رس یا شیرې یا ددي سرکه دټولو دپاره خوړل درست دي کفاره په هیڅ صورت کي نه لازمیږي. ([2])

قسم یې وکی چه شل ورځي به دبي بي سره همبستري نه کوم او بیا یې وکړه نو کفاره به ورکوي: **سوال**: (۲۲) زید قسم وخوړی چه ترشلو ورځو پوري به دخپلي بي بي سره صحبت نه کوم او بیا یې په شلو ورځوکي دوه ځله صحبت وکی په دي صورت کي دوې کفاری واجب سوي اوکه او دکفاری تعداد څه دي؟

جواب: په دي صورت کي به یوه کفاره واجبیږي او تعداد ددغه کفارې په دي زمانه کي دا دي چه په لسو مسکینانو باندي دوه وخته خوراك وکړل سي یا کپړي ورواغوندوي اوکه چیري دا نه سي کولي نو دري ورځي پرله پسي روژې به ونیسي. ([3])

دمسلمان سره دتعلق پریکولو په قسم ماتولو سره کفاره ورکول په کار دي: **سوال**: (۲۳) یو سړي چه نوم یې اصغر علي دي په یوه دنیوي معامله کي دمسجد دخطیب سره جګړه وکړه او دمولوي صاحب زباني بي ادبي یې وکړه اوپه خپلي خوښی سره دجماعت او

([1]) ردالمحتار کتاب الایمان ج۳ ص۲۲ قبیل مطلب فی حکم الحلف بغیره تعالی ج۳ ص۲۲. ط. س ج۳ ص۷۰۵. ظفیر

([2]) وکذا لا یکرن یمینا اذا قال ان فعلت کذا فانا زان اوسارق او شارب خمر او اکل ربوا (هدایه کتاب الایمان ج۳ ص۴۲۰). ظفیر

([3]) وکفارته الخ تحریر رقبة او اطعام عشرة مساکین اوکسوتهم بما یصلح للاوساط وینتفع به فوق ثلاثة الشهر ویستر عامة البدن الخ وان عجز عنها کلها الخ صام ثلاثة ایام ولاء (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار مطلب کفارة الیمین ج۳ ص ۸۲- ط. س ج۳ ص ۷۲۵). ظفیر

مسجد څخه جلا سو داصغر علي په دغه حرکت باندي جماعت قسم وکړی چه موږ به دي په خپل هیڅ کاروبارکي نه شریکوو او نه به دده سره شریکیږو بالکل تعلق یې پریکړی اوس اصغرعلي په خپلي خطاء باندي پښیمانه دي او داهل جماعت څخه دمعافي غوښتونکي دي او توبه کوي اوس داهل جماعت په خپل قسم باندي قائم پاته کیدل او قسم پوره کول واجب دي اوکه داصغر علي قصور معاف کول او دهغه په جماعت کي شاملول په کار دي؟

جواب: کله چه اصغرعلي مذکور په خپل کار باندي پښیمانه سو او توبه یې وکړه نو عند الله دده قصور معاف سو ځکه چه په حدیث شریف کي راځي: التائب من الذنب کمن لا ذنب له (۱) داصغرعلي مذکور دپاره په کار دي چه دامام مذکور څخه دخپلي گستاخۍ او خطا معافي وغواړي او امام اونورو کسانو ته په کار دي چه کله هغه توبه وکړي نودهغه قصور معاف کړي ځکه چي کله الله تعالي دبنده هرقسم گناه معاف کوي نو بندگانو ته هم په کار دي چه دیو سړي څخه څه قصور وسي او هغه پښیمانه سي اوقصور معاف کول غواړي نو دده قصور معاف کړي قال الله تعالی: خذ العفو وأمر بالعرف واعرض عن الجاهلین، الایة، نوخلقو ته په کار دي چه دخپل قسم لحاظ ونه کړي قسم مات کړي اودهغه کفاره ورکړي او دغه اصغرعلي مذکور په خپل جماعت او قوم کي شامل کړي.

<u>که چیري داکار مي وکړی نوزما مور به طلاقه وي په دې ویلو سره قسم نه کیږي</u>: سوال:

(**۲۴**) په پنجاب کي رواج دي چه بعضي خلق دقسم خوړلو په وخت اکثره دا وایي که چیري زه فلانۍ خبره یا فلاني کار وکړم نو زما مور به طلاقه وي حالانکه مور ته دطلاق ورکولو هیڅ حق نسته آیا دا قسم دي که چیري یو سړي دغه کار وکړي چه دڅه په بابت کي ده قسم کړي دي نو آیا پردې باندي دشریعت څه مؤاخذه یا کفاره وغیره لازمیږي؟

جواب: دا قسم نه دي او په دې کي کفاره هیڅ نسته (۲) او داسي ویل جائز نه دي توبه دي وکړي (یعني که چیري صرف دا جمله یې ووایی که چیري فلاني کار مي وکی نو زما مور دي طلاقه وي، لیکن که ددي سره یې قسم هم وخوړی نو کفاره ورکول لازم دي، ظفیر). فقط

---

(۱) مشکوٰة باب الاستغفار والتوبة. ظفیر

(۲) وثالثها منعقدة وهی حلفه علی مستقبل ان یمکنه فنحو والله لا اموت ولا تطلع الشمس من الغموس (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار کتاب الایمان ج۳ ص۲۲) غموس ان حلف علی کاذب عمدا الخ یأثم بها فتلزمه التوبة (ایضا ط. س. ج۳ ص۷۰۸). ظفیر

په ناجائز قسم ماتولو سره هم كفاره سته: **سوال**: (۲۵) زيد په غصه كي قسم خوړلی وو چه زه به وطن ته نه ځم بيا دبزگرانو په مجبورولو باندي يې قسم مات كړی او وطن ته ولاړی نو په داسي صورت كي كفاره راځي اوكه نور څه؟

جواب: داسي قسم ماتول په كار وه ([1]) او كفاره پردي لازميږي. ([2])

دظهار كفاره طلباؤ ته په وركولو سره ادا كيږي: **سوال**: (۲۶) ديو سړي پرذمه دظهار كفاره واجبه ده نو ددي دادائيگي دپاره طلباؤ ته كپړي يا څپلی يا دغلي قيمت كه چيري وركړي نو كفاره ادا كيږي اوكه نه؟

جواب: ټول شقونه په دې كي درست دي كفاره په دې كي ادا كيږي ([3]). فقط

په قسم ماتولو سره كفاره واجبيږي؟ **سوال**: (۲۷) په قسم ماتولو سره آيا كفاره واجبيږي اوكه راځي؟

جواب: په آينده امر باندي په قسم خوړلو او ماتولو سره كفاره لازميږي او دقسم په كفاره كي مخكي مالي كفاره ده يعني غلام آزادول يا لسو مسكينانو ته دوه وخته خوراك وركول يا لسو مسكينانو ته كپړي وراغوندول كه چيري ددې كارونو څخه عاجز وي نو دري ورځي پرله پسي دي پرله پسي روژه ونيسي. ([4]) فقط

دقسم په خلاف كولو سره به كفاره وركوي: **سوال**: (۲۸) دكلهيړي نومي سيمي تاجرانو عهد كړي وو چه موږ به ماسوا ددوو سړيانو څخه پربل هيچا باندي خپله كپړه نه خرڅوؤ دوه كاله وروسته تاجرانو چه كم عهد كړي وو مات يې كړی نو ددي څه حكم دي؟

جواب: كه چيري كلهيړي والاوو قسم خوړلي او دا عهد كړي وو نو ددوی دعهد په مخالفت كولو باندي دقسم كفاره دوی لره وركول په كار دي اوكه چيري قسم يې نه وو خوړلي هسي يې عهد كړي وو نوبيا ددي په ماتولوباندي هيڅ كفاره نسته اوماتول دعهد

([1]) واراد البر وجوداً وعدما فان يجب فيما اذا حلف على طاعة ويحرم فيما اذا حلف على معصية ويندب فيما اذا كان عدم الحلوف عليه جائزًا (ردالمحتار كتاب الايمان ج۳ ص۲۳). ظفير

([2]) وثالثها منعقدة وهى حلفه على مستقبل يمكنه وفيه الكفارة الاية، واحفظوا ايمانكم (الدرالمختار على هامش ردالمحتار كتاب الايمان ج۳ ص۲۲ ط. س. ج۳ ص۷۰۸). ظفير

([3]) وكفارته تحرير رقبة او اطعام عشرة مساكين اوكسوتهم بما يصلح للاوساط من ينتفع به فوق ثلثة اشهر ويستر عامة البدن الخ واذا عجز عنها صام ثلثة ايام ولاء (قوله عشرة مساكين) اى تحقيقا او تقديرا (ردالمحتار كتاب الايمان ج۳ ص۸۲. ط. س. ج۳ ص۷۲۵). ظفير

([4]) وكفارة اليمين تحرير رقبة واطعام عشرة مساكين اوكسوتهم بما يصلح للاوساط ويستر عامة البدن الخ وان عجز عنها كلها وقت الاداء صام ثلثة ايام ولاء (درمختار) قوله عشرة مساكين اى تحقيقا او حتى لواعطى مسكينا واحدا فى عشرة ايام كل يوم نصف صاع يجوز الخ (ردالمحتار كتاب الايمان ج۳ ص۸۲. ط. س ج۳ ص۷۲۵). ظفير

په دغه موجوده حالت کي څه منع نه دي ځکه چه په حديث شريف کي راغلي دي که چيري يو سړي په يوکار باندي قسم وخوري او عهد وکړي بيا ددي په خلاف کي ورته بهتري معلومه سي نو دغه قسم او عهد دي مات کړي او دقسم کفاره دي ورکړي. فقط

ديمين طلاق څخه دخلاصون صورت: **سوال**: (۲۹) زيد دقسم په طور سره وويل که مي دعمر سره خبري وکړي نو زما ښځه به په دري طلاقونو طلاقه وي نو اوس په شريعت کي داسي کمه حيله سته چي خبري وکړي او پرښځه يې طلاق واقع نه سي؟

جواب: قال فی کتاب الايمان من الدرالمختار الکلام والتحديث لايکون الا باللسان فلا يحنث باشارة وکتابة الخ (۱) نو دطلاق دنه واقع کيدو دا حيله ده چي دعمر سره خبري ونکړي يا په اشاره يا په کتابت دهغه سره مخاطبت وکړي. فقط

دفلانۍ زناني سره يې دنکاح کولو قسم وخوړی ددويمی سره نکاح کولي سي اوکه نه؟

سوال: (۷۰) سلمه دبکر منکوحه ده خالد قسم وخوړی چه زه به دسلمه سره نکاح کوم نو دا قسم به لغوه وي اوکه نه؟ او خالد دبلی زنانه سره نکاح کولي سي اوکه نه؟

جواب: دقسم کفاره ورکول لازم دي (۲) او دبلي زنانه سره نکاح کولي سي. فقط

دقسم څخه وروسته يې چه کله دقسم خلاف وکی نوکفاره به راځي: **سوال**: (۷۱) يو څو طلباؤ قسم وکی او قرآن شريف يې په لاسونو کي پورته کړی چه موږ په حلف سره وايو چه آئنده به دفلاني سړي سره هيڅ کله لوستل نه کوو ليکن په څه خاص وجهي سره دوی لوستل وکړل اوس صرف ددې خبری پوښتنه ده چه دغه طلباء به کفاره ورکوي اوکه نه؟ اوکفاره څه ده قسم خو ښکاره دی چه مات سو؟

جواب: په صورت مستفسره کي طلباء حانث سول او ديمين کفاره ددوی په ذمه لازمه سوه: قال فی الدرالمختار وثالثها منعقدة وهی حلفه علی مستقبل الی ان قال وهذا القسم فيه الکفارة لاية واحفظوا ايمانکم (۳) او دقسم کفاره دا ده چه لسو مسکينانو ته دوه وخته خوراك ورکړي يا لسو مسکينانو ته کپړي ورکړي چه ددوی اکثره بدن پټ سي يا غلام آزاد کړي: وکفارته ۱. تحرير رقبة او ۲. طعام عشرة مساکين او کسوتهم الخ بما يصلح للاول او ينفع به فوق ثلثة اشهر ويستر عامة البدن (۴) اوکه چيري پرغلام ازادولو

(۱) الدر المختار علی هامش ردالمحتار کتاب الايمان مطلب حلف لا يکلمه ج۳ ص۱۴۲. ط. س. ج۳ ص۷۹۲.

(۲) چه دهغه ښځه وه که چيري ددي سره يې بيا دنکاح قسم خوړلی وي دا خو هيڅ خبره نه ده که چيري بله څوك وي چي دهغې په باره کي يې قسم خوړلي وي او دهغې سره يې نکاح نه ده کړي او ددويمي سره يې وکړه نو کفاره لازميږي.

(۳) الدرالمختار علی هامش ردالمحتار کتاب ا لايمان ج۳ ص۲۲. ط. س. ج۳ ص۷۰۸. ظفير

(۴) الدرالمختار علی هامش ردالمحتار کتاب الايمان ج۳ ص۸۲. ط. س. ج۳ ص۷۲۵. ظفير

باندي لكه نن سبا يا پرخوراك خوړلو باندي يا پرکپړو باندي قادر نه وي نو دري ورځي دي پرله پسي روژه ونيسي [1] قال فى الدر المختار وان عجز عنها كلها صام ثلثة ايام ولاء الخ وقال الله تبارك وتعالى فكفارته اطعام عشرة مساكين من اوسط ما تطعمون اهليكم اوكسوتهم او تحرير رقبة فمن لم يجد فصيام ثلثة ايام ذالك كفارة ايمانكم اذا حلفتم واحفظوا ايمانكم، الاية [2]. فقط

دیو قصاب په كوركي دغوښي نه خوړلو قسم يې وكى كه چيري دده غوښه په بل كوركي وخوري نوڅه حكم دي؟ **سوال:** (۷۲) ديو كلي ديو څو كورونو يوڅو كسانو قسم وخوړى چه دفلاني قصاب دكور غوښه به نه اخلو او نه به دده سره هغه غوښه چه دده په كوركي پخه سوي وي خورو، قسم دكور يوه يوه سړي وكى ددي په وجه چه دكور څومره كسان وه په دي باندي ټولو عمل وكى او تر دوه كالو پوري په دي باندي دخلقو عمل جاري وو اوس په كلي كي دغه خلقو ته دعوت كيږي اوپه دعوتونو كي ددغه قصابانو غوښه وي نه خو ددعوت څخه انكار كول كيږي اونه دقسم په وجه غوښه خوړلي سي لهذا عرض دى كه چيري ددغه قصابانو دكورونو غوښه دنورو كورونو كره پخه سي نو خوړل يې جائزدي اوكه نه؟

دپخي سوي غوښي په خوړلو سره هم كفاره سته: **سوال:** كه چيري دغه خلق ددغه قصابانو غوښه خپله واخلي يا دنورو پخه سوي وخوري نو كفاره به وركوي اوكه نه او كفاره به څومره وركوي؟

دغريب دپاره كفاره سته اوكه نه؟ **سوال:** قسم خوړونكي غريب دى ددوى دپاره څه حكم دي؟

چاچه قسم ونه كړي پرهغوئ كفاره نسته: **سوال:** هغه خلگ چه چا قسم نه وو خوړلي ليكن دوى هم عمل په دي باندي وكى، نو آيا دغه خلق چي خوري نو پردوى به هم گناه لازمه وي اوكفاره به وركوي؟

جواب: ۱-۲. كه چيري دغه خلق دخپل قسم خلاف وكړي نو دقسم كفاره به وركوي [3] دقسم كفاره داده چه لس مسكينانو ته به دوه وخته په مړه خيټه خوراك وركوي يا به كپړي وراغوندوي يا به غلام ازادوي يعني دغلام قيمت به اداكوي، كه چيري په خوراك

[1] ايضا ج۳ ص۸۴. ط. س. ج۳ ص۷۲۵. ظفيز
[2] المائده ، آية : ۸۹. ظفير
[3] وثالثها منعقدة وهى حلفه على مستقبل ان يمكنه الخ فيه الكفارة لاية واحفظوا ايمانكم الخ ان حنث (الدرالمختار على هامش ردالمحتار كتاب الإيمان ج۳ ص۲۲. ط. س. ج۳ ص۷۰۸). ظفير

سره كفاره ادا كړي نوكه هر مسكين ته دي نيم صاع غنم يعني دانګريزي وزن په حساب سره پاؤ باندي دوه سيره يا ددي قيمت وركړي نو كافي دي اوكه چيري په يوه مدرسه كي نقدي وركړي او ووايي چه لسو مسكينانو طالب العلمانو ته يو كس ته ددوه سيره غنمو قيمت وركړئ نو داهم صحيح ده كفاره ادا كيږي اوكه چيري لس محتاج كسان كښينوي او خوراك په وكړي نو داهم جائز دي مګر شرط دا دي چي دغه لسو كسانو ته دوه وخته خوراك وركړي او په مړه خيټه دسبزيجاتو سره ډوډی په وخوري يا وريجي په وخوري، په يوه وخت په لسو مسكينانو باندي دخوړلو شرط نسته كه چيري په يوه طالب العلم باندي لس ورځي دوه وخته خوراك په مړه خيټه وكړي نو دا هم جائز ده (١).

۳. هغه غريب چه دهغه لسو مسكينانو ته دخوراك وركولو يا كپړو اغوستلو طاقت نه وي نو هغه دي دري ورځي پرله پسي روژي ونيسي. (٢)

۴. چه كمو خلقو قسم نه وو كړی پرهغوی باندي هيڅ ګناه نسته اونه پردوی باندي كفاره راځي. فقط

يو سړي وويل كه چيري داسي مي وكړل نو دامت محمدي ښځه به وتلی يم قسم وسو: سوال: (۷۳) كه چيري يو سړي وويل كه فلاني كار مي وكی نو دامت محمدي ښځه به وتلی يم نو په دي سره قسم منعقد كيږي اوكه نه اوكه چيري دغه سړي په خپله دغه كار وكړي نو كفاره وركول لازم سوه اوكه نه؟

جواب: كه چيري يو سړي وويل چه فلاني كار مي وكی نو دامت محمدي ښځه به وتلی يم نو په دي سره قسم منعقد كيږي او دحنث په صورت كي كفاره وركول لازم دي. (٣)

قسم يې وكی چه په فلاني ورځي باندي به قرض ادا كوم: سوال: (۷۴) كه چيري يو سړي قسم وكړی چه زه به په فلاني ورځ دده قرض ادا كوم، اوس يې ترهغه ورځي مخكي ادا كړی نو حانث سو اوكه نه؟

جواب: كه چيری قسم يې وكړي چه په فلاني ورځ باندي به دده قرض ادا كوم او دهغه ښځه مخكي يې كړی نوحانث نه سو. (٤)

---

(١) وكفارته تحرير رقبة او إطعام عشرة مساكين أو كسوتهم لما يصلح للاوساط وينتفع به فوق ثلثة اشهر ويستر عامة البدن (درمختار) قوله: عشرة مساكين اى تحقيقا او تقديرا حتى لو اعطى مسكينا واحدا فى عشرة ايام كل يوم نصف صاع يجوز الخ (ردالمحتار كتاب الايمان ج۳ ص۸۲ ط. س. ج۳ ص۷۲۲). ظفير

(٢) وإن عجز عنها كلها وقت الأداء الخ صام ثلثة ايام ولاء (الدر المختار على هامش ردالمحتار كتاب الايمان ج۳ ص۷۴. ط. س. ج۳ ص۷۲۷). ظفير

(٣) وكلام الله يمين زاد احمد والنبى ايضا ولو تبرا من يمين اجماعا (ايضا ج۳ ص۷۰. ط. س. ج۳ ص۷۸۲). ظ

(۴) حلف ليعطينه رأس شهر فاعطاه قبله او ابرأه اومات الطالب سقط اليمين عندابى حنيفة ومحمد (فتاوى =

په زړه کي قسم وکړي نو دهغه په خلاف کولو سره نه حانث کيږي: **سوال**: (۷۵) که چيري يو سړي په زړه کي قسم وکړي چه صبا به زه دخپلي بي بي سره نه همبستر کيږم ليکن دخپلي بي بي په خواهش سره همبستر سو نو شرعًا څه حکم دي؟

جواب: چه ترڅو پوري يې په ژبه باندي الفاظ نه وي ويلي اونه وي مات کړي نو دقسم کفاره پرده نه لازميږي. (۱)

دقرآن قسم خوړل: **سوال**: (۷۶) پر قرآن مجيد باندي لاس ايښودل يا هغه پورته کول په لاس کي دامر يا نهي فعل يا دروژي او دلمانځه دپريښودلو اوپه پابندی کولو، دنشه خوری يا خُمار کولو څخه په منع کيدو باندي قسم او عهد کول يا بل ته يې ورکول درست دي او که نه؟ زيد وايي چه کلام الله مخلوق نه دي ليکن قرآن په هغه حرف اوصوت او صورت سره مخلوق دي ددي وجي دا غير الله دي او دغير الله قسم خوړل شرك دي اگر چه قسم کيږي بکر وايي چه نه شرك دي او نه بدعت او نه حکم دي او نه منع بلکه نهي عن المنکر او دامر طرفته ترغيب دي، ددي وجي ښه داده چي تاسو يې مدلل وليکئ !

جواب: اقول قال فی ردالمحتار ونقل فی الهندية عن المضمرات وقد قيل هذا فی زمانهم اما فی زماننا فيمين وبه ناخذ ونأمر ونعتقد وقال محمد بن مقاتل الرازی انه يمين وبه اخذ جمهور مشائخنا الخ فهذا مؤيد لکونه صفة تعورف الحلف بها کعزة الله وجلا له (۲) نومعلومه سوه چي حلف بالقرآن متعارف دی اودا داسي دی لکه حلف بعزة الله وجلاله نو شرك او بدعت ويل دې ته صحيح نه دي، اودگناه په پرېښوولو باندي عهد کول ياپه بل باندي يې کول ښه او عمده کار دی اودجنازې لمونځ دهريوه مسلمان نيك وي اوکه بد اوستل پکار دي، الامام استثناه الفقهاء لقوله عليه السّلام صلوا علی کل بر وفاجر الحديث. (۳)

دکار خير دپاره قسم اخيستل څنګه دي؟ **سوال**: (۷۷) دخلافت دکميټۍ څخه يو څوکسان ددي دپاره واخيستل سول چه دلمانځه دادا کولو تاکيد به کوي ليکن شرط دا دي چه ټول ممبران به دمقرر کيدو څخه مخکي خپل لاسونه په مبارك مصحف شريف سره مزين

= عالمگيري ج۲ ص۷۴ نولکشوری). ظفير

(۱) ورکنها اللفظ المستعمل فيها (الدر المختار علی هامش ردالمحتار کتاب الايمان ج۳ ص۲۳ ط. س. ج۳ ص۷۰۴). ظفير

(۲) ردالمحتار کتاب الايمان مطلب في القرآن ج۳ ص۷۰، ط. س. ج۳ ص۷۱۲. ظفير

(۳) شرح فقه اکبر ص ۹۱. ظفير

کوي او قسم وکړي چه په دي امرکي به دهيڅ رشته دار خيال نه ساتي يو سړي په دي باندي معترض دي او مخالف دی، ددې په نسبت شرعًا څه حکم دي؟

جواب: معترض او مخالف په دي کار خيرکي پرصريح خطا باندي دي او سخت گناهگار دی ددي شخه دې توبه وکړل سي. ([1])

چه پيغمبر هم راسي دا کار به ونه کړم قسم نه دي: **سوال**: (۷۸) که چيري يو سړي دا ووايي چه که چيري يو پيغمبر عليه السلام هم راسي نو هم به دا کار ونه کړم ددې شخه وروسته پښيمانه سي او دهغه شخه توبه وکړي او هغه کار وکړي نو څه کفاره به راځي؟ په دي الفاظو سره قسم وسو اوکه نه؟

جواب: په داسي وينا سره قسم نه کيږي او ددي کار په کولو سره کفاره نه واجبيږي ليکن داسي الفاظ ويل نه دي پکار. ([2])

دخبرو نه کولو حلف يی واخستی نوځه به کوي؟ **سوال**: (۷۹) که چيري يو سړي کلام مجيد په لاس کي واخلي او وعده وکړي چي دا کلام مجيد گواه کوم اوپه دي قسم کوم چي اوس به تردومره وخته پوري دحامد خبري نه کوم که چيري هغه اوس دحامد سره خبري وکړي نوکفاره واجب ده اوکه نه؟ اودده دحامد سره خبري کول په کار دي اوکه نه؟

جواب: ده ته په کار دي چه دحامد سره خبري وکړي او دقسم کفاره ادا کړي ([3]) او دقسم کفاره داده چه لسو مسکينانو ته دوه وخته خوراك ورکړي يا کپړي ورکړي اوکه چيري دانه سي کيدي نو دري ورځي پرله پسي روژه دي ونيسي. ([4]) فقط

قسم وکړي چه زه به واده نه کوم اوس واده کول غواړي نو څه به کوي؟ **سوال**: (۸۰) زيد خپلي بي بي ته دا قسم وخوړی چه زه خپل الله او رسول ضامن درکوم مضبوطه او پخه وعده کوم چه ستا په موجودگی کي به دوهم واده نه کوم اوس دهلك دنيستوالي په وجه

([1]) تعاونوا على البر والتقوٰی ولا تعاونوا على الاثم والعدوان (المائده : ۲) قال الکمال ولا يخفى ان الحلف بالقرآن الآن متعارف فيکون يمينا وعندی ان المصحف والقرآن وکلام الله يمين لا سيما فی زماننا وعند الثلاثة المصحف والقرآن وکلام الله يمين (الدر المختار على هامش ردالمحتار مطلب فی القرآن ج۳ ص۷۰) لم يکن حالفا کالنبی الخ لقوله عليه السلام من کان منکم حالفا فيحلف بالله او ليذر (هدايه اولين کتاب الايمان ج۲ ص۴۵۹. ط. س. ج۳ ص۷۱۲). ظفير

([2]) ومن حلف بغير الله لم يکن حالفا کالنبی الخ لقوله عليه السلام من کان منکم حالفا فليحلف بالله او ليذر (هدايه اولين کتاب الايمان ج۲ ص۴۵۹). ظفير

([3]) ونوع يتخير فيه بين البر والحنث خير من البر فيندب فيه الى الحنث (عالمگيری مصری ج۲ ص۵۲). ظفير

([4]) وکفارة اليمين کساء عشرة مساکين وان شاء اطعم عشرة مساکين فان لم يقدر صام ثلثة ايام متتابعات (هدايه اولين کتاب الايمان ج۲ ص۴۵۹). ظفير

زید ته دویم واده کول ضروري دي نو داخروي مواخذې څخه دخلاصون څه صورت دي؟

جواب: زید دویم واده کولي سي البته که چیري یې وکړي نو دي به دقسم کفاره ورکوي او دمواخذې څخه به بري سي (۱) او دقسم کفاره داده چه لسو مسکینانو ته دوه وخته خوراك ورکړي یا لسو مسکینانو ته کپړې ورواغوندي اوکه چیري دانه سي کولي نو دري ورځي دي پرله پسي روژه ونیسي کما قال الله تعالی: فکفارته اطعام عشرة مساکین، الایة. فقط

که چیري داسي وسوه نو داسلام څخه به خارج سم داحلف دي: سوال: (۸۱) که چیري یو سړي یا ښځه قسم وخوري او ولیکي چه زه قسم کوم په الله تعالي او دهغه دخوږ رسول ﷺ که چیري خلاف تحریر ولیکم یا زباني شکایت وکړم نو داسلام څخه به خارج سم او کافر به یم یا کافر به مړ سم او بیا ددغه څخه خلاف وکړي نو ددې څه حکم دي؟

جواب: که چیري دمذکور قسم خلاف ارتکاب وکړي نو دقسم کفاره واجب ده کنه نونه ده واجب. (۲)

په قسم ماتولو سره کفاره راځي؟ سوال: (۸۲) زید خپلي کورنۍ په یوه خبره باندي دوررولۍ څخه جلا کړی او دکورنۍ هریو سړي حلف وکی چه موږ به هیڅکله دزید سره اړیکی نه ساتو بیا ټولو عمداً دزید سره اړیکی شروع کړي نوپر دوی دقسم کفاره سته اوکه نه او څه کفاره ده اوپه دوی پسي لمونځ درست دي اوکه نه که چیري زید دخپلي خطائي معافي وغواړي او ددوی سره لیدل وغواړي نو څه حرج خو نسته؟

جواب: چه کمو خلګ دخوړلو څخه وروسته ددي خلاف کړي دي دهغو پرذمه دقسم کفاره ده (۳) یعني که چیري هغوی صاحب استطاعت وي نو لسو مسکینانو ته خوراك ورکول یا کپړي ورکول واجب دي اوکه چیري یې په دومره اندازه باندي استطاعت نه وي نو پرلپسي دري ورځي روژی نیول واجب دي (۴) او پرهر حال دداسي خلقو سره ګډون

---

(۱) من حلف علی معصیة الخ وجب الحنث والتکفیر لانه اهون الامرین حاصله ان المحلوف علیه اما فعل اوترد وکل منهما اما معصیة او واجب وبره فرض او هو اولی من غیره اوغیره اولی منه حنثه اولی (الدر المختار کتاب الایمان ج۳ ص۸۵. ط. س. ج۳ ص۷۲۸). ظفیر

(۲) ولو قال ان فعل کذا فهو بری من الاسلام فهو یمین استحسانا. کذا فی البدائع (عالمگیری مصري کتاب الإیمان ج۲ ص۵۴. ط. س. ج۱ ص۵۴) وفیه الکفارة الخ ان حنث (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار کتاب الایمان ج۳ ص۲۲. ط. س. ج۳ ص۷۰۸). ظفیر

(۳) وفیه الکفارة الخ ان حنث (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار کتاب الایمان ج۳ ص۲۲. ط. س ج۳ ص۷۰۸). ظفیر

(۴) فکفارته الخ اطعام عشرة مساکین اوکسوتهم الخ وان عجز عنها کلها الخ صام ثلثة ایام ولاء (الدرالمختار =

ساتل او په دوی پسي لمونځ لوستل جائز دي اوزيد که چيري څه شرعي قصور کړي وي نو دده دپاره بيا هم دا بهتره ده چه دخپل خاندان سره دمواخات لرلو دپاره هر ممکن کوشش وکړي ولې چي باهمي اتفاق دمسلمانانو دپاره جز لاينفك دي. فقط

قسم يې وکی چه فلاني کار به نه کوم اوس يې کول غواړي نو څه به کوي؟ **سوال**: (۸۳) يو سړي قسم وخوړی او قرآن يې په لاس کي واخيستی چه فلاني کار به نه کوم اوس هغه ددي خلاف کول غواړي نودا قسم جائز وو اوکه ناجائز او کفاره واجبه ده اوکه نه؟

جواب: دا قسم منعقد سو اوکه چيري حانث سو يعني دغه قسم يې مات کړی او خلاف يې وکی نو کفاره به ورکوي په درمختارکي دي قال الکمال ولايخفي ان الحلف بالقرآن الان متعارف فيکون يمينا الخ (۱). فقط

که دبکر څه شی مي وخوړی نو دخنزير غوښه به خورم: **سوال**: (۸۴) زيد وويل که چيري ما دبکر څه شي وخوړی نو دخنزير غوښه به خورم يا په خپل اولاد باندي به يې خورم اوس که چيري زيد په بکر باندي څه شي خوړل وغواړي نو دبکر دپاره به په کمه طريقه جائز سي که چيري بکر دزيد يو شي وخوري نوڅه حکم دي؟

جواب: حلال شي په خپل خان باندي حرامول يمين دي په دې کي کفاره دحنث څخه وروسته لازمه ده (۲) ليکن چه کم صورت په سوال کي دي په هغه سره دبکر خوراك حرام نه سو اوکه چيري يې وخوري نو کفاره نه لازميږي: لو قال ان اکلت هذا الطعام فهو علی حرام فاکله لاکفارة، در مختار. (۳) فقط

زنانه قسم وخوړی چه کور به خرابوم نو دغه زنانه دی ددی کفاره ورکړي: **سوال**: (۸۵) يوه زنانه په غصه کي خپل خاوند ته وواييی چه په الله تعالي قسم چه زه به ستا کور خرابوم که چيري خراب يې نه کړی نو دقسم کفاره به لازمه سي اوکه به هغه کافره سي؟

جواب: دقسم کفاره ورکول به لازم سي (۴) او کافره نه سوه. (۵)

= علی هامش ردالمحتار کتاب الايمان ج۳ ص۸۲. ط. س. ج۳ ص۸۲۵). ظفير

(۱) الدر المختار علی هامش ردالمحتار کتاب الايمان ج ۳ ص ۷۰ ط. س. ج ۳ ص۷۱۲. ظفير

(۲) کل حل او حلال الله او حلال المسلمين علی حرام الخ فيمين (درمختار) لان تحريم الحلال يمين (ردالمحتار کتاب الايمان ج ۳ ص ۸۹. ط. س. ج ۳ ص۷۳۲). ظفير

(۳) الدر المختار علی هامش ردالمحتار تحرير الحلال ج۳ ص۸۲. ط. س. ج ۳ ص ۷۳۰. ظفير

(۴) وثالثها منعقدة وهی حلفه علی مستقبل ات الخ فيه الکفارة فقط ان حنث (الدر المختار علی هامش ردالمحتار کتاب الايمان ج۳ ص۶۲. ط. س. ج ۳ ص۷۰۸). ظفير

(۵) والاصح ان الحالف لم يکفر سواء علقه بماض او ات ان کان عنده فی اعتقاده انه يمين (ايضا ج۳ ص ۷۵. ط. س. ج۳ ص۷۱۸). ظفير

دشرط دوجي يې قسبم وكى نو په شرط ختميدو سره قسم نه ختميږي: **سوال**: (۸۶) زيد او عمر قسمونه وكړل چه ديو بل وينا به منو نو څو ورځې وروسته زيد عمر ته وويل چه ته ماته ددي خبري اجازت راكړه كه چيري تا قسم مات كى او زما وينا دي ونه منله نو بيا به زه هم ستا وينا نه منم عمر ددي خبري اجازت وركى اوس عمر قسم مات كى كه چيري زيد دعمر وينا ونه مني نو زيد به هم حانث وي اوكه نه؟

جواب: په دي صورت كي به زيد حانث وي ځكه چه اول كم قسم وسو وروسته په هغه كى هيڅ استثنا نه سي كيدى. [1]

قسم يې وكى چي كله يې وينا وكړه نو حانث به وي: **سوال**: (۸۷) عمر دا قسم وكى كه چيري ما دبكر او خالد سره خبري وكړي نوچه څومره ودونه مي وكړل په ټولو دي طلاق وي، او دمحشر په ورځ دي نبي عليه السلام زما شفاعت ونه كړي او دمرګ په وخت دي كلمه نصيب نه سي ددوزخ څخه علاوه دجنت خوشبو دي نصيب نه سي. بيا يوه ورځ عمر دبكر سره خبري وكړي نو عمر به حانث وي اوكه نه اوچي څوك دعمر واده وكړي پردغه زوجه باندي به هم طلاق وي اوكه نه؟

جواب: عمر به په دغه صورت كي حانث وي [2] اوكه چيري هغه واده وكړي نو دده بي بي به مطلقه سي [3] ليكن عمر به كافر نه وي مسلمان به پاته وي، او چه كم سړي دعمر واده وكړي په هغه باندي هيڅ مواخذه نسته او دده بي بي به مطلقه نه وي. فقط

زيد قسم وكړي چه فلاني شي به فلاني ته نه وركوم ليكن فلاني ته به يې په خوشحالي وركړم څه حكم دي؟ **سوال**: (۸۸) دزيد مور دده بي بي هندي ته دري عدده دسوني زيورات وركړي وه دده دمور او زوى تر مينځ څه اختلاف راغى نو زيد دغصې په حالت كي قسم وكى چه زه به خپلي بي بي ته مذكوره بالا زيورات نه وركوم اوچه كم زيورات دهندي سره وه هغه يې وايستل او وغورزول او دزيد مور دوباره زيورات هندي ته وركړل او دزيد په وينا سره هغه نه وركوي نو په دي صورت كي د زيد قسم مات سو اوكه نه؟

جواب: په دي صورت كي دزيد قسم مات نه سو او پرزيد باندي دقسم كفاره لازمه نه ده.

---

(۱) وصل بحلفه ان شاء الله بطل يمينه وكذا يبطل به أى بالاستثناء المتصل (درمختار) قيد بالوصل لانه لو فصل لا يفيد (ردالمحتار كتاب الايمان ج۳ ص ۹۸. ط. س. ج ۳ ص۷۴۳). ظفير

(۲) وسئل عمن قال انا برئ من الشفاعة ان فعلت كذا قال يكون يمينا (عالمگيرى مصرى ج۲ ص۵۳. ط. ماجديه ج۱ ص۵۳). ظفير

(۳) وتنحل اليمين اذا وجد الشرط مرة الخ (الدر المختار على هامش ردالمحتار ج۲ ص۲۹۰. ط. س. ج۳ ص۳۵۵). ظ

که چیري خوراک مي وکړی نو خنزیر به خورم، په دې ویلو سره قسم نه کیږي: **سوال**: (۸۹) وې ویل چه که چیري دفلاني دکوره خوراك وکړم نو خنزیر به خورم په دي سره قسم وسو او که نه؟

جواب: که چیري یو سړي دا الفاظ وویل چي که چیري ما دفلاني دکور څخه خوراك وکړی نو خنزیر به خورم نو دا قسم نه دي په دي سره دده دکور خوراك حرام نه سو او کفاره به نه راځي: وفی البحر ما يباح للضرورة لا يكفر مستحلها كدم وخنزير الخ (درمختار) و فی الشامی هو يستحل الدم او جسم الخنزير ان فعل كذا لا يكون يمينا لان استحلال ذالك لا يكون كفراً الخ. (۱) فقط

درواجونو دپرېښودلو قسم یې وکړی بیا یې ادا کړه نو کفاره به راځي: **سوال**: (۹۰) خلاصه دا ده چه د کلي خلقو قسم وکړی چه آئنده به دواده رسومات نه کوو بیا ټولو دغه قسم مات کړی ددي څه کفاره ده؟

جواب: چه کم خلګ قسم وکړي او حانث سي نو دهغوی پرذمه دقسم کفاره واجبه ده یعني په لسو مسکینانو باندي دي دوه وخته خوراك وکړي یا دي کپړه ورکړي اوکه په دي یې قدرت نه وي نو بیا دمجبوری په وجه دي دري روژي ونیسي (۲) پرخوراك او کپړو باندي دقدرت باوجود په روژه نیولو سره کفاره نه ادا کیږي (۳) بهر حال داسي یې وکړل په دي کي داسلامي تعلیماتو خلاف دي ددي پرېښودل لازمي دي پرټولو مسلمانانو باندي ضروري ده چه ددي پابندي وکړي او بیا چه کم خلق ددي مخالفت وکړي او ددي په خلاف عمل ادا کړي نو دهغوی سره تمام تعلقات پریکول په کار دي پر معصیت او جاهلانه رسوماتو باندي اصرار کولو والا ددي قابل نه دي چه مسلمان ددوی سره څه تعلق وساتي. فقط

قسم یې وکی چه دشپې به دخپلي بي بي سره نه یوځای کیږم بیا یوځای سو: **سوال**: (۹۱) یو سړي دکلام پاك قسم وخوړی چه نن شپه به دخپلي بي بي سره نه یوځای کیږم بیا یې د خپلي بي بي سره په دغه شپه ملاقات وکی نوپه دي صورت کي به حانث وي اوکه نه؟

(۱) ردالمحتار كتاب الايمان ج۳ ص۷۸. ط. س. ج۳ ص۷۲۱. ظفير

(۲) ومنعقدة وهو ان يحلف على امر فى المستقبل ان يفعله او لا يفعله وحكمها لزوم الكفارة عند الحنث كذا فى الكافي (عالمگیری مصری كتاب الايمان ج۲ ص ۵۲. ط. ماجدیه ج۲ ص۵۲). ظفير

(۳) كفارة اليمين عتق رقبة الخ ان شاء كسى عشرة مساكين كل واحد ثوبا فيما زاد وادناه مايجوز فيه الصلوة وان شاء اطعم عشرة مساكين كالاطعام فى كفارة الظهار الخ فان لم يقدر على احد الاشياء الثلثة صام ثلثة ايام متتابعات (هدايه كتاب الايمان ج۲ ص۴۲۱). ظفير

جواب: په دي صورت كي به حانث وي او دقسم كفاره به لازمه وي قال الكمال ولا يخفى ان الحلف بالقرآن الان متعارف فيكون يمينا الخ درمختار.

دامام سره ښكنځل او بد رد: (۹۲ – ۹۳) **سوال**: بعضو خلقو دخپل امام سره فساد وكى او هغه ته يې بي هوده ښكنځل وكړه بي عزتي يې وكړه او مسجد ته تگ نه يې بند كړى حالانكه دټولي محله والاوو سره دوى هم حلفا وعده وكړه چه ټول حكمونه دامام به پوره كوو او دهريوه حكم شرعي تعميل به كوو، په عدالت كي يې ددروغو شكايتونه پيش كول ددي امورو متعلق څه حكم دي؟

جواب: دټولو سوالونو جواب دا دي چه بغير دڅه وجي څخه دامام سره فساد كول او ښكنځل ورته كول او بد رد ويل او په عدالت كي ددروغو شكايتونه كول حرام او ناجائز دي [1] او چه كمو خلقو داسي وكړل هغوئ فاسق فاجر اوگناهگار سول دوى لره توبه كول په كار دي او دامام څخه معافي غوښتل په كار دي اوكه چيري دغه خلقو قسم وكى او امام داطاعت عهد يې كړى وو نو ددي په مخالفت كولو سره دقسم كفاره ددوى پرذمه واجب ده [2] لسو مسكينانو ته دي په مړه خيټه خوراك وركړي [3] او امام يا يو مسلمان مسجد ته دراتگ څخه منع كول او دلمونځ لوستلو څخه بندول حرام دي په قرآن پاك كي داسي سړي ته ډير لوي ظالم او دمسجد خرابونكي فرمايل سوي دي: ومن أظلم ممن منع مساجد الله ان يذكر فيها اسمه وسعى فى خرابها، الاية. [4]

زنانه قسم وكړي چه ټول عمر به نكاح ونه كړم اوس يې كول غواړي نوڅه به كوي؟ سوال: (۹۴) يوې كونډې زنانه ته ددي ليور دنكاح كولو دپاره وويل دغه زنانه قرآن را پورته كړى او وې ويل چه زه به ټول عمر دويمه نكاح ونه كړمه اوس هغه دويمه نكاح كول غواړي نو دا به كفاره وغيره وركوي او كه نه؟

جواب: كه چيري هغه زنانه نكاح وكړي [5] نو دا به دقسم كفاره وركوي لسو مسكينانو ته به كپړي وركوي يا به دواړه وخته خوراك په خوري كه چيري دا ونه سي نو دري ورځي پرله پسي دي روژه ونيسي. [6] فقط

---

[1] قال النبى ﷺ سباب المسلم فسوق وقتاله كفر (مشكوة). ظفير

[2] وفيه الكفارة الخ ان حنث (الدرالمختار على هامش ردالمحتار كتاب الايمان ج۳ ص ۷۲. ط. س- ج ۳ ص۷۰۸). ظفير

[3] وكفارته الخ اطعام عشرة مساكين كما مرّ في الظهار او كسوتهم (ايضا ج۳ ص۸۲. ط. س. ج۳ ص۷۲۵). ظ

[4] سورة البقرة آية: ۱۱۴. ظفير

[5] ونوع لا يجوز حفظهما وهو ان يحلف على ترك طاعته او فعل معصية الخ فيندب فيه الى الحنث (عالمگيرى مصرى كتاب الايمان ج۲ ص۵۲. ط. س. ج۲ ص۵۲). ظفير =

په قرآن پاک قسم کول څنګه دي؟ **سوال**: (٩۵) په اوس زمانه کي په قرآن پاك قسم خوړل جائز دي او که نه؟

جواب: په دي زمانه کي که چيري څوك قسم وکړي نو هغه به شرعًا حالف ګڼل کيږي او پرده به تمام احکام دحلف جاري کيږي ځکه چه نن سبا په عام طور باندي دحلف بالقرآن رواج دي، قال المحقق ابن الهمام فی فتح القدير ثم لايخفى ان الحلف بالقرآن الآن متعارف فيكون يمينًا كما هو قول الائمة الثلثة الخ (١) فتح القدير جلد۴. فقط

که فلاني شي دي کښينښودي نو وهم به دي په دي سره قسم نه کيږي: **سوال**: (٩٦) يو سړي خپلي بي بي ته وويل چه که چيري تا فلاني شي په کور کي کښينښودی نوډير وهل به درکړم او بيا دکال په مينځ کي هغه شي پيدانه سو نو دا قسم سو او پرخاوند باندي دنه وهلو په صورت کي کفاره به واجبه وي اوكه نه؟

جواب: دا قسم ونه سو اوكفاره په دې کي واجب نه ده او بي بي به هم نه وهي اوآئنده دي داسي خبره نکوي. (٢)

دمدعا عليه څخه دمدعي په موجودګئ کي حلف اخيستل په کاردي: **سوال**: (٩٧) قاضي دقضا په مجلس کي دمدعا عليه څخه حلف واخيستی ليکن مدعي يې را ونه بلی دمدعي په غائبوالي کي دمدعاعليه حلف معتبر دي اوكه نه؟

جواب: پر مدعا عليه باندي يمين دمدعي په طلب کولو سره لازميږي كما فی الدرالمختار والا يبرهن حلفه الحاكم بعد طلبه اذ لابد من طلبه اليمين فی جمع الدعاوي الا عند الثانی فی اربع الخ نوچه کله طلب کول دمدعي شرط دي نو معلومه سوه چه دمدعي يا دهغه دوکيل موجوديدل شرط دي. فقط

دقسم خوړلو څخه وروسته چه قرض خواه مهلت ورکړي ليکن په خلاف ورزئ باندي به کفاره وي: **سوال**: (٩٨) زيد قسم وخوړی او وې ويل چي زه به سبا مطالبه کوم ليکن دځه بعضي مجبوری دوجي زيد عمر ته مهلت ورکول منظور کړل آيا په دي صورت کي به پرزيد باندي کفاره وي اوكه نه؟

جواب: په دي صورت کي پر زيد باندي دقسم کفاره لازمه ده.

---

(٢) وكفارته الخ اطعام عشرة مساكين كما مر فی الظهار اوكسوتهم بما يصلح للأوساط ويستر عامة البدن الخ وان عجز عنها كلها الخ صام ثلثة ايام ولاء (الدر المختار على هامش ردالمحتار كتاب الايمان ج٣ ص٨۴ ط. س. ج٣ ص٧٣٣). ظفير

(١) فتح القدير ج۴ ص ۵۴ باب مايكون يمينا وما لا يكون يمينا. ط. س. ج٣ ص٣۵۴. ظفير

(٢) وثالثها منعقدة وهى حلفه على مستقبل (الدرالمختار كتاب الايمان ج٣ ص٦٢. ط. س. ج٣ ص٧٠٨). ظفير

<u>يو وار دحلف په خلاف ورزی کولو سره اودکفاره ورکولو څخه وروسته دوباره هغه نه عائد کيږي</u>: **سوال**: (۹۹) ما ديو شي داستعمال څخه دټول عمر قسم خوړلي وو چه زما دپاره ددي استعمالول دټول عمر دپاره حرام دي بيا پاته نه سو استعمال مې کړی او حانث سوم دا قسم زما څخه منتهي سو اوکه نه يعني اوس خو ددي په استعمال سره به دوباره حانث کيږم نه؟

۲. خپله ددي استعمال مباح دي اوکه حرام؟

جواب: قسم منتهي سو دکفاری څخه وروسته بيا ددغه شي په استعمال سره به نه حانث کيږي. (۲) مباح دي کذا حققه الشامی لکنه خلاف الاولی. فقط

<u>دايمان قسم</u>: **سوال**: (۱۰۰) مسلمان ته دايمان قسم خوړل جائز دي او که نه؟

<u>دمسلمان سره موالات پريښودل</u>: **سوال**: (۱۰۱) دکافر سره خو موالات پريښودل جائز دي ليکن دمسلمان سره موالات پرېښودل جائز دي اوکه نه؟

<u>قسم دخوړلو څخه وروسته ماتول</u>: **سوال**: (۱۰۲) قسم خوړل او ماتول دقسم کفاره به ورکوي اوکه نه؟

جواب: (۱) قسم په الله خوړل په کار دي دالله تعالي څخه علاوه په ايمان يا قرآن قسم نه دي خوړل په کار. (۱)

جواب: (۲) دکفر او فسق په وجه ترك موالات کيدي سي او په دې کي تفصيل او درجات دي. (۲)

جواب: (۳) دقسم دماتولو په صورت کي دقسم دکفاری ورکول لازم دي، غلام آزادول يا لسو مسکينانو ته دوه وخته خوراك ورکول يا لسو مسکينانو ته لس جوړې کپړې ورکول که چيري دانه سي کيدي (۳) نو دري روژي پرله پسي ساتل. فقط

<u>په ان شاء الله سره په قسم خوړلو سره قسم نه پاته کيږي</u>: **سوال**: (۱۰۳) زما پلار په ما باندي دچرګ نه خوړلو عهد وکی ما په دي الفاظو سره عهد وکی چه ان شاء الله زه به چرګ نه خورم نو زما دپاره چرګ خوړل جائز دي اوکه نه؟

---

(۱) لا يقسم بغير الله تعالى كالنبى والقرآن والكعبة (الدرالمختار على هامش ردالمحتار كتاب الايمان ج۳ ص۷۵ ط. س. ج۳ ص۷۱۳). ظفير

(۲) بي له کمي شرعي وجي دمسلمانانو سره شرعی موالات ختمول درست نه دی: تعاونوا علی البر والتقوی ولا تعاونوا علی الاثم والعدوان. ارشاد ربانی دی. ظفير

(۳) وفيه الكفارة الخ ان حنث الخ وكفارته الخ اطعام عشرة مساكين اوكسوتهم الخ وان عجز عنها كلها الخ صام ثلثة ايام ولاء (الدر المختار على هامش ردالمحتار كتاب الايمان ج۳ ص۲۲ وص۸۳ – ۸۴. ط. س. ج۳ ص۷۰۸، وص ۷۲۷ – ۷۲۵) . ظفير

جواب: جائز دي ځکه چه په انشاء الله ويلو سره قسم نه کيږي دا دي ډير ښه وکړل چه ان شاء الله دي وويل. (۱)

دخوراک نه کولو قسم يې وکی او شيدې يې وخوړلې نو څه حکم دی؟ **سوال:** (۱۰۴) يو سړی دشپې دبيده کيدو په وخت غصه سو ديو سړي په لاس کي يې خوراك ورکړی دا يې وويل چه زه به نن په الله قسم خوراك نه کوم ددې څخه وروسته هغه سړي يو ګلاس دشيدو ډك راوړی اوپه انتهائي عاجزی سره يې وويل که چيري دخوراك دپاره تا قسم کړي وي خير دي دا شيدې وڅښه ددغه سړي دوينا په وچه يې شيدې وڅښلې آيا دغه شيدې په غذا کي داخلي دي او خوراك والا به حانث وي اوکه نه؟

جواب: په دي صورت کي په شيدو څښلو سره دغه مذکوره سړي حانث نه سو كما في الشامي (۲) ففى البحر عن البدائع لو حلف لا يأكل هذا اللبن فاكل الخبز او التمر او لا يأكل هذا العسل او الخل فاكل الخبز يحنث الخ الغرض علة مذكورة لانه لا ياكل سره، په صورت مستفسره کي عدم حنث ښکاره دي.

دشرکت قسم يې وخوړی ليکن ناجائز امور وي نو کفاره دي ورکړي قسم دي مات کړي:

سوال: (۱۰۵) څلويښت کسان يوځای سول يوه جرګه يې مقرره کړه چه هريو سړي په خپلوکي ديو بل په غم او ښادی کي شريك اوسي اوپه دي خبره باندي هرسړي قسم وکی چه څوك ددې جرګې څخه جلا سي هغه به دنبي عليه السلام دامت څخه خارج وي، اوس په دغه جرګه کي چه چيري واده کيږي نو غزلي، ګانه اوګډا وغيره شرکت کوي مثلاً دواده دزلمي په لاس پوري تار تړل وغيره هم کيږي په داسي حالت کي په دغه جرګه کي شامل حال اوسيدل څنګه دي؟ او ددې څخه دجدائي څه صورت دي؟

جواب: په دي صورت کي چه په کم غم او ښادی کي، ګاني او غزلي ږغول او نور رسمونه چه دشريعت څخه خلاف وي په هغوکي شريکيدل درست نه دي اوپه داسي حالت کي قسم پوره کول جائز نه دي او دقسم کفاره دي ورکړل سي. او دا وينا لغوه ده چه کم سړي په دي کي شريك نه وي هغه دنبي کريم ﷺ دأمت څخه خارج دي بلکه دګناه په ځای کي شرکت کول حرام دي او نه شريکيدل ضروري دي او دداسي قسم ماتول لازمي دي. (۳)

دولايتي کپړې دنه استعمالولو په قسم سره مخکي کپړي ناجائزي نه سوې: **سوال:** (۱۰۶) زيد

---

(۱) وصل بحلفه ان شاءالله بطل يمينه (ايضا ج۳ ص۹۸. ط. س، ج۳ ص۷۴۲). ظفير

(۲) باب اليمين فى الاكل والشرب واللبس والكلام. ط. س. ج۳ ص۷۶۵. ظفير

(۳) من حلف على معصية الخ وجب الحنث والتكفير (الدرالمختار على هامش ردالمحتار كتاب الايمان ج۳ ص ۸۵. ط. س. ج ۳ ص۷۲۸) . ظفير

حلف وکی چه زه دنن څخه دولایتي کپړو استعمال حرام اوناجائزګنم نه به یې استعمالوم او نه به یې په خپله اخلم نوچه کمي کپړي ددغه حلف څخه مخکي دزید سره موجودي دي دهغو استعمالول جائز دي اوکه نه؟

جواب: هغه کپړي چه دمخکي څخه اخیستل سوي دي دهغو استعمال شرعًا درست دی لیکن که چیري حلف یې په عامو الفاظو کنبي کړي وو چه دنن څخه ولایتي کپړه حرامه ګنم او دهغی استعمال یې پرخپل ځان باندي حرام کړی نو دقسم کفاره به ورکوي اګر چه هغه مخکي اخیستل سوي هم استعمال کړي. ([1])

<u>ددروغو دقسم خوړونکي حکم</u>: **سوال**: (۱۰۷) ددروغو دقسم خوړونکي څه حکم دی یو بزرګ وفرمایل چه ددروغو قسم کوونکي دولس میاشتي په دنیا کي خراب او ذلیل کیږي دا صحیح ده اوکه نه؟ اوکه ددروغو قسم کوونکي په مسکینانو باندي خوراك وخوري نو کفاره ادا کیږي اوکه په حج کولو سره؟

جواب: ددروغو قسم خوړل عمدًا کبیره ګناه ده او په دروغو قسم خوړونکي فاسق دي اوپه دروغو ګواهي ورکونکي باندي خو ډیر زیات وعید راغلي، په قرآن شریف کي یې دا دشرك سره برابر فرمایلي دي کما قال تعالی: واجتنبوا قول الزور حنفاء لله غیر مشرکین ([2]) کذا ورد فی بعض الاحادیث والیمین الغموس ([3]) رواه البخاری وفی روایة انس وشهادة الزور بدل الیمین الغموس متفق علیه، باقي دا خبره چه په دروغ قسم کولو والا په دولسو میاشتو کي دننه خراب او ذلیل ددنیا وي داپه هیڅ نص کي نه دي راغلي او ددروغو قسم چه پریوه تیره سوي معامله باندي دی په هغه کي کفاره نسته صرف په توبې سره به ګناه معاف سي. اوپه آینده خبره باندي قسم خوړل مثلًا دا چه په الله قسم زه به فلاني کارکوم او بیا یې ونه کړي نو په دې کي کفاره سته او ددي نوم یمین منعقده دی او دروغ قسم په تیر سوي کار باندي چه دهغه نوم یمین غموس دي په دې کي صرف په توبې سره کفاره کیږي ([4]) اوکه چیري توبه وکړي حج یې هم ددې څخه وروسته وکی نو نور ثواب دي او په حج سره ډیر ګناهونه معاف کیږي. فقط

<u>موړ قسم وخوړي چه بل یوچا ته به کار نه ورازده کوؤ دا څنګه ده</u>: **سوال**: (۱۰۸) موړ خلق

([1]) وفیه الکفارة الخ ان حنث (ایضا ج۳ ص۲۲. ط. س. ج۳ ص۷۰۸). ظفیر

([2]) سورة الحج ، آیة: ۳۰ – ۳۱ . ظفیر

([3]) مشکوة شریف. ظفیر

([4]) وهی الخ غموس الخ ان حلف علی کاذب عمدا الخ کوالله ما فعلت کذا الخ ویاثم بها فتلزمه التوبة الخ ومنعقدة وهی حلفه علی مستقبل آت یمکنه وهذا القسم فیه الکفارة الخ ان حنث (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار کتاب الایمان ج۳ ص۲۳ – ۲۲. ط. س ج۳ ص۷۰۵ – ۷۰۸). ظفیر

شیشي جوړؤ او زموږ په مینځ کي موږ قرآن شریف پورته کړی دي چي هیڅ یو سړی دبهر اوسیدونکي ته به کار نه ورښیو دا دشریعت څخه خلاف دي اوکه نه؟ اوکه یو سړي قسم مات کړی دده دپاره څه حکم دي؟

جواب: داسي قسم کول بي شکه دشریعت څخه خلاف دي لیکن چه کم سړي دغه قسم مات کړي نو پرهغه دقسم کفاره لازمه ده (۱) یعني لسو مسکینانو ته دوه وخته په مړه خیټه خوراك ورکول یا لسو مسکینانو ته کپړي ورکول اوکه چیري ددي طاقت یې نه وي نو دري ورځي پرله پسي روژي نیول لازم دي. (۲)

دواده باوجود يې ددروغو قسم وکی چه زما واده نه دی سوی: **سوال**: (۱۰۹) که چیري یو سړي حلفیه بیان ورکړي چه زما واده نه دي سوي اونه زه څه اولاد لرم او حال دا چه دده واده دغه ځای سوي دي دکم ځای څخه چه دي انکار کوي او دده اولاد هم سته دداسي سړي دپاره څه حکم دي؟

جواب: دا سړی ددروغو دقسم دوجه ګناهګار سو اوکفاره ددي قسم توبه کول دي (۳) لیکن دده بي بي دده دنکاح څخه خارجه نه سوه.

که دفلاني کار مرتکب یم نو جنت دي حرام وي دا قسم نه دي: **سوال**: (۱۱۰) یو سړي دګناه څخه دځان خلاصولو دپاره دا الفاظ دزبان څخه وایستل که چیري زه دفلانۍ ګناه مرتکب یم نو ای الله جنت پرما حرام کړه اوپه دوزخ کي مي واچوه ددې څخه وروسته هغه شو ځله ددغه ګناه مرتکب سو آیا دا قسم دي چه کفاره یې ادا کړل سي اوکه توبه کافي ده؟

جواب: دا قسم نه دي او په دې کي کفاره لازمه نه ده توله دي وکړي. (۴)

بار بار قسم وخوري او بیا خلاف ورزي وکړي نو څه به کوي؟ **سوال**: (۱۱۱) یو سړي یو حرام کار کوي لیکن ده ددغه فعل اوکار څخه توبه وایسته اوقسم یې وخوړی چه آئنده به داسي کار نه کوم بیا یې دغه کار وکی اوبیا یې توبه وایسته یو څو ځلي یې داسي وکړل

---

(۱) لا یقسم بغیر الله تعالی کالنبی والقرآن والکعبة قال الکمال لا یخفی ان الحلف بالقرآن الان متعارف فیکون یمینا (در مختار) قوله بغیر الله ای لا ینعقد بغیره تعالی ای غیر اسمائه وصفاته ولو بطریق الکنایة کما مر بل یحرم کما فی القهستانی (ردالمحتار کتاب الایمان ج۳ ص۷۰). ظفیر

(۲) وفیه الکفارة الخ ان حنث الخ وکفارته الخ اطعام عشرة مساکین اوکسوتهم الخ وان عجز عنها کلها الخ صام ثلثة ایام ولاء (الدر المختار علی هامش ردالمحتار کتاب الایمان ج۳ ص۲۲ – ۸۲). ظفیر

(۳) وهی غموس ان حلف علی کاذب عمدا ویاثم بها لتلزمه التوبة (ایضا ج۳ ص۲۳). ظفیر

(۴) ولا یقسم بصفة لم یتعارف الحلف بها من صفاته تعالی کرحمته وغضبه وسخطه الخ لعدم العرف (ایضا ج۳ ص۷۲). ظفیر

اوس بیا توبه کوي نوده ته دمخکي قسم په حقله څه کول په کار دي اوڅه کفاره واجبه ده؟

جواب: په دې صورت کې که چیري مخکي دقسم کفاره یې نه ده ورکړې نو اوس دټولو قسمونو یوه کفاره ورکول کافي ده (۱) او دګناه دمعافئ دپاره توبه دزړه په صدق سره کول کافي دي او دقسم کفاره داده چه لسو مسکینانو ته دوه وخته په مړه خیټه دي خوراك ورکړي یا لسو مسکینانو ته دي لس جوړه کپړې ورکړي اوکه چیري دا نه سي کیدي نو دري ورځي دي پرله پسي روژي ونیسي. فقط

که چیري داسي وسي نو موږ دي کلام پاک ووهي قسم دي اوکه نه؟ سوال: (۱۱۲) ددوو کسانو په مینځ کي ریشتونی محبت دي په دوی کي دا لاندیني عهد اوپیمان وسو چه کلام مجید په لاس کي کنبیږدي او قسم وخوري چه ددې کلام مجید الله ﷻ حاضر او ناظر ګڼو که چیري موږ تعلق پریکړی یا دچا دفشار راوړلو یا بندولو په وجه بند سوه یا مو دیو اوبل سره بد وکړل نو موږ دي دغه کلام پاك ووهي او دمحشر په ورځ دي دنبي کریم ﷺ دشفاعت څخه محرومه سو او ددنیا څخه دي کافر ولاړ سو که چیري دغه عهد یې په څه وجه مات کړی نو کفاره ورکول به درست وي اوکه نه؟ اګر چه دکفاري ورکولو په نسبت یې هم دلوړو مذکورو الفاظو عهد کړی وي.

جواب: که چیري دضرورت شرعیه په وجه دغه عهد او قسم مات کړل سي نو دقسم کفاره ورکول به واجب وي (۲) او ددغه قسم په مذکوره الفاظو معاهده کول شرعًا درست هم نه دي. (۳)

دچا دویشتلو قسم یې وخوړی اوکامیاب نه سو نو کفاره دي ورکړي: سوال: (۱۱۳) یوسړي دیو کس دویشتلوقسم وکی لیکن هغه په خپله اراده کي ناکام سو نوشرعًا څه حکم دي؟

جواب: دقسم کفاره دي ورکړي چه غلام ازادول یا لسو مسکینانو ته دوه وخته خوراك ورکول یا کپړې وراغوستل دي او که چیري دا ونه سي نو دري ورځي متواتري روژه دي ونیسي. (۴)

---

(۱) وفی البحر عن الخلاصة والتجرید وتتعدد الکفارة لتعدد الیمین والمجلس والمجالس سواء الخ (درمختار وفی البغیة کفارات الامان اذا کثرت تداخلت ویخرج بالکفارة الواحدة عن عهدة الجمیع وقال شهاب الائمة هذا قول محمد قال صاحب الاصل المختار عندی اه مقدسی (ردالمحتار کتاب الایمان ج۳ ص۷۱). ظفیر

(۲) وفیه الکفارة الخ ان حنث (الدر المختار علی هامش ردالمحتار کتاب الایمان ج۳ ص۲۲. ط. س. ج۳ ص۷۰۸). ظفیر

(۳) ان فعل کذا فهو یهودی او نصرانی الخ او کافر ط. س ج۳ ص۷۱۷. ظفیر

(۴) وکفارته الخ اطعام عشرة مساکین او کسوتهم الخ وان عجز عنها کلها الخ صام ثلثة ایام ولاء (ایضا ج۳ =

دځان دبیرې دوجې غلط حلف اخیستل څنګه دي؟ **سوال**: (۱۱۴) که چیرې زید ته دځه وجې څخه دخپل ځان بیره وي نو دهغه غلط حلف پورته کول به جائز وي اوکه نه؟

جواب: دځان مال او دعزت دبیرې څخه ددروغو اجازت دي لیکن صریح دروغ دي نه وایي تعریضًا درست دي. (۱)

دقسم څخه وروسته په خلاف ورزی سره به حانث کیږي: **سوال**: (۱۱۵) یوڅو کسانو قسم وکړ چه موږ به روژه او لمونځ نه قضا کوو بیا دوی دهغه خلاف وکړ شرعي حکم څه دي؟

جواب: چه کمو کسانو قسم خوړلي دي او ددي خلاف یې کړي دي او قسم یې مات کړي دي په هغوي باندي دقسم کفاره لازمه ده (۲) او دقسم ماتولو کفاره لسو مسکینانو ته دوه وخته خوراك ورکول یا کپړې وراغوستل اوکه چیرې دا نه سي کیدي نو درې ورځې پر له پسي روژه نیول په کار دي (۳) او دلمونځ او دروژې پر پرېښودونکو باندي قضاء ددغه لمونځونو او روژو لازمه ده. فقط

چه تر څو پورې قرض ادا نه سي روژه به نیسم دا نذر نه دی: **سوال**: (۱۱۶) زما دانا صاحبې عمر ۷۲ کاله دي او دکمزورئ په وجه کښیناستل ولاړیدل هم ورته ګران دي چونکه ددي پرذمه دڅلورو زرو څخه زیات قرضه دنیکه صاحب دوخت څخه ده ددي وجي هغه فکرمنده سوي او عهد یې کړي دي چه تر قرض ادا کولو پورې به روژه نیسم نو دیوه کال سره موافق دعهد برابر روژه نیسي دا صورت دنذر دي اوکه نه؟ په یوه طریقه دانا صاحبې روره موقوفه کیدي سي اوکه نه؟

جواب: داصورت دنذر نه دي نو ددي وجي روژه همیشه دقرض تر ادا کولو پورې ساتل لازمي نه ده نوستاسو انا صاحبی ته ووایاست چه روژه دي نه نیسي او دقسم کفاره دي ورکړي، یعني په لسو مسکینانو باندي دي خوراك وخوري. فقط

دقسم په خلاف په ګورنمنټ کالج کې په لوستـــلو سره به کفاره ورکوي: **سوال**: (۱۱۷) ددین

= ص۸۲. ط. س. ج ۳ ص۷۲۵). ظفیر

(۱) الکذب مباح لاحیاء حقه ودفع الظلم عن نفسه والمراد التعریض لان عین الکذب حرام (الدر المختار علی هامش ردالمحتار کتاب الحظر والاباحة باب فی البیع ج۵ ص۳۷۷ ط س. ج۳ ص۴۷۲). ظفیر

(۲) وفیه الکفارة الخ ان حنث (الدر المختار علی هامش ردالمحتار کتاب الایمان ج۳ ص۲۲. ط. س. ج ۳ ص۷۰۸). ظفیر

(۳) وکفارته الخ اطعام عشرة مساکین اوکسوتهم الخ وان عجز عنها کلها الخ صام ثلثة ایام ولاء (درمختار) وفی الاطعام اما التملیك او الاباحة فیعیشهم ویغدیهم ولواطعم خمسة وکسا خمسة اجزاه ذلك عن الاطعام الخ (ردالمحتار کتاب الایمان ج۳ ص۸۲ – ۸۳. ط. س. ج۳ ص ۷۲۵ – ۷۲۷). ظفیر

دعالمانو دفتوا په موجب بنده دکالج تعلیم پرې ایښی وو او والدین یې رضامند کړل په جامعه ملیه علي ګهړ کي داخل سو دداخلیدو په وخت بنده دا حلف وکی چه زه ددین دعالمانو دفتوا په موجب چه ترڅو پوري پرهر یوه مسلمان باندي عدم تعاون فرض دی په هغې باندي کار بندبه یم اوس چه کله بنده په رخصتي باندي کور ته راورسیدی نو والدینو مجبورول شروع کړل چي اوس په اسلامیه کالج لاهور کي چه دګورنمنټ څخه امداد اخلي داخل سم! ماته اوس څه کول په کار دي؟

جواب: امداد اخیستل په مدارسو کي دګورنمنټ څخه اګر چه درست نه دي (۱) لیکن په داسي مدرسو او کالجونوکي سبق ویل اګر چه ښه نه دي لیکن درست دي نوکه چیري والدین دي په دي باندي مجوره کوي چه په کالج اسلامیه لاهور کي داخل سه او سبق وایه نو دادرسته ده دوی ته اختیار دي لیکن که چیري دحلف خلاف کار یې وکی او قسم یې مات کی نو دقسم کفاره لازمیږي (۲) او دقسم کفاره داده چه لسو مسمکینانو ته دوه وخته خوراك ورکړي یا کپړي ورواغوندي اوکه چیري دانه سي کیدي نو دري ورځي پر له پسي روژي ونیسي. فقط

دګناه والا قسم ماتول واجب دي: **سوال**: (۱۱۸) دیوې زنانه سره زما ناجائز تعلق دي دمذکوره زنانه په وینا سره ما ددي خبري قسم خوړلي دي چه دخپلي بي بي سره به په هفته کي دیوه ځل نه زیات هم بستر کیږم نه! ددي ګناه څخه خلاصي څنګه کیدي سي؟

جواب: داسي قسم چه دګناه څخه ډك وي شرعًا یې ماتول واجب دي او ددغه زنانی سره ناجائز تعلق پریښودل پکار دي (۳) او دقسم کفاره دي ورکړل سي چه په لسو مسکینانو باندي دوه وخته خوراك خوړل دي اوکه چیري دانه سي کیدي نو دري ورځي روژي دي پرله پسي ونیول سي. (۴) فقط

قسم خوړل څنګه دي؟ **سوال**: (۱۱۹) حلف اخیستل څنګه دي؟

---

(۱) دا فتویٰ یې په وقتي ډول باندي دموالات لیري کولو په زمانه کي ورکړي وه چه کله دانګریزانو پرهندوستان باندي حکومت ؤ او عالمانو دآزادئ حاصلولو دپاره دانګلش ګورنمنټ سره دموالات ختمولو دپاره فتویٰ ورکړي وه او اوس دا حکم باقي پاته نه دي. ظفیر

(۲) وفیه الکفارة الخ ان حنث (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار کتاب الایمان ج۳ ص۲۲. ط. س. ج۳ ص۷۰۸). ظفیر

(۳) من حلف علی معصیة الخ وجب الحنث والتکفیر (الدر المختار علی هامش ردالمحتار کتاب الایمان ج۳ ص۸۵. ط. س. ج ۳ ص۷۲۸). ظفیر

(۴) وکفارته الخ اطعام عشرة مساکین او کسوتهم الخ وان عجز عنها کلها الخ صام ثلثة ایام ولاء (ایضا ج۳ ص۸۲. ط. س. ج۳ ص۷۲۵). ظفیر

دغير الله قسم څنګه دي؟ سوال: (۱۲۰) دالله تعالي څخه علاوه دنورو شيانو قسم خوړل څنګه دي جائز دي اوکه نه؟ بينوا بالدليل !

جواب: (۱) په الله قسم خوړل که چيري ضرورت وي نو جائز دي ليکن بغير له ضرورت څخه ښه نه دي، په شامي کي ليکلي دي: واليمين بالله تعالی لا يکره وتقليله اولی من تکثيره الخ. (۱)

(۲) دالله ﷻ څخه ماسوا په بل شي باندي قسم اخيستل جائز نه دي لکه څه رنګه چه په حديث شريف کي دي: ان الله نهاكم ان تحلفوا بآبائكم من كان حالفا فليحلف بالله او ليصمت متفق عليه (۲) او وجه دممانعت دا ده چه دکم شي قسم خوړل کيږي دهغه عظمت په ذهن کي وي او عظمت کامله حقيقةً الله تعالي لره دي بل چاته په دې کي شرکت نسته، لکه څه رنګه چه په مرقات شرح مشکوٰة کي دي: الحكمة فی النبی عن الحلف بغير الله تعالی فلا يضاهی به غيره الخ (۳) او اصل دا دي چه دنبي ﷺ ددي څخه منع فرمايل پوره دليل دممانعت دي. فقط

دغير الله قسم: سوال: (۱۲۱) په اسلام کي حلف ماسوا دالله تعالي څخه بل قسم جائز دي اوکه نه؟ دعدم جواز په صورت کي په يوه موقع باندي دا ويل چه حلف چشي دي نعوذ بالله من ذلك (الله تعالي چشي دي) هم معني سوه اوکه نه نوپه دي صورت آخرکي دزيد متعلق حکم دشريعت سره مطلع وفرماياست !

جواب: قسم دالله تعالي يا دده ﷻ په معروف صفاتو کول پکار دي ددي څخه علاوه دغير الله قسم خوړل درست نه دي او دحلف څخه غرض دکلام تاکيد وي (۴) نودزيد دا ويل چه حلف چشي دي دده دلاعلمئ دليل دي ګويا دي دقسم پوره کول ضروري نه ګڼي اوپه بعضي موقعوکي داسي هم کيدي سي چه دحلف خيال نه لرل په کار وي اودغه حلف اوقسم ماتول په کار وي لکه څنګه چه په حديث شريف کي راغلي نبي ﷺ فرمائي چه بعض وخت په يو کار باندي قسم خورم او بيا دهغه په خلاف کي خير وينم نودغه حلف

---

(۱) ردالمحتار كتاب الايمان ج۳ ص۷۳. ط. س. ج ۳ ص ۷۰۵. ظفير

(۲) مشكوة ص۲۹۷. ظفير

(۳) مرقاة المفاتيح ج۲ ص۵۵۴ والحديث وهو قوله ﷺ من كان حلفا فليحلف بالله تعالی الخ محمول عند الاكثيرين علی غير التعليق فانه يكره اتفاقا لما فيه مشاركة المقسم به لله تعالی فی التعظيم الخ (ردالمحتار كتاب الايمان ج۳ ص۷۳. ط. س. ج۳ ص۷۰۵). ظفير

(۴) والقسم بالله تعالی الخ وباسم من أسمائه كالرحمن والرحيم والحليم والعليم الخ او بصفة من صفاته تعالی كعزة الله وجلاله الخ لايقسم بغير الله تعالی كالنبی والقرآن والكعبة مختصرا (الدر المختار علی هامش ردالمحتار كتاب الايمان ج۳ ص۶۸. ط. س. ج۳ ص۷۱۰). ظفير

ماتوم او دخير كار كوم او دقسم كفاره وركوم په دي پوښتنه كي دسائل دا ليكل چه حلف چشي دي مراد اوهم معني ددي دي چه الله چشي دي، دا غلط دي لهذا دقائل دمذكور قول تكفير به نه سي كيدي البته دغه قائل ته داسي ويل نه دي پكار او په دي خبره سره دي گناهگار سو توبه دي وكړي اوآئنده دي داسي كلمه په ژبه سره نه وايي. فقط

دشطرنج په سلسله كي حلف: **سوال**: (۱۲۲) زيد دشطرنج دكولو څخه قسم كړي دي كه چيري كفاره وركول وغواړي نو څه مقدار يې دي؟

جواب: دشطرنج كولو دحلف كولو څخه معلومه نه ده چس دسائل څه مطلب دي، آيا دا حلف يې كړي دي چه نه به يې كوم اوكه دا چي كوم به يې، نوكه چيري ده حلف دنه كولو كړي وي چه نه به يې كوم نو دا يې ښه كړي دي دا قسم دي نه ماتوي، اوكه چيري دا حلف يې كړي وي چي كوم به يې نو دا قسم ماتول په كار دي او دا لوبه پريښودل پكار دي ځكه چه شطرنج كول حرام دي (١) او دقسم كفاره دا ده چي په لسو مسكينانو باندي دوه وخته ډوډۍ وخوري يا لس جوړه كپړي لسو مسكنانو ته وركړي اوكه چيري دا نه سي كولي يعني ددي طاقت يې نه وي نو دري روژي دي متواتر ونيسي او غلام آزادول يې ددي وجي پريښودل چه په دي ملك كي هغه مشكل دي. فقط

قرآن په لاس كي اخيستل او حلف كول: **سوال**: (۱۲۳) كه څوك قصداً قرآن مجيد په لاس كي واخلي او داعهد وكړي چي فلاني كار به نه كوم اوبيا هغه كار وكړي دده په حق كي څه حكم دي او دكلام الله شريف دقسم په دروغ گڼلو باندي داسلام څخه خارجيږي اوكه نه او ښځه يې طلاقه سويده او كه نه؟

جواب: دا شخص عاصي سوي دي توبه دي وكړي (٢) اوكه دقرآن حلف يې كړي وي او حانث سوي وي ديمين كفاره واجب ده اوكافر سوي نه دی او ښځه يې نه ده طلاقه سوي كذا في الدر المختار (٣). فقط

دفلاني څخه يې كه جبراً وانه خلم نو زما بي بي ته دي طلاق وي ددي څخه وروسته يې فلاني خپله وركړي: **سوال**: (۱۲۴) يو سړي خپل اكا ته وويل كه چيري زه پنځوس روپي چه

---

(١) من حلف على معصية الخ وجب الحنث والتكفير (الدر المختار على هامش ردالمحتار كتاب الايمان ج٣ ص٨٥، ط.س. ج٣ ص٧٢٨). ظفير

(٢) من حلف على معصية الخ وجب الحنث والتكفير (الدرالمختار على هامش ردالمحتار كتاب الايمان ج٣ ص٧٥. ط. س. ج٣ ص٧٢٨). ظفير

(٣) الا يقسم بغير الله تعالى كالنبى والقرآن والكعبة (درمختار) لقوله عليه الصلوة والسلام من كان منكم حالفا فليحلف بالله او ليذر (ردالمحتار كتاب الايمان ج٣ ص٧٠ ط.س. ج٣ ص٧١٢). ظفير

زما پرتا باندي دي جبراً وانه خلم نو زما بي بي دي په دري طلاقو حرامه وي اوس كه چيري دغه اكا په خوښى سره روپئ وركړي نو څه حكم دي؟ او كه چيري په خوښى سره يې ورنه كړي او هغه جبراً وانخلي نو څه حكم دي؟

جواب: كه چيري اكا په رضا سره روپي وركړي نو يمين ساقط سو اودغه سړي به حانث نه وي اودده ښځه به نه طلاقيږي وكذا لو حلف ان يجره الى باب القاضى ويحلفه فاعترف الخصم او ظهر شهود سقط اليمين لتقيد من جهة المعنى بحال انكاره (۱) درمختار، او كه چيري هغه يې په رضا سره ورنكړي او دا جبراً وصول نه كړي نو چونكه يمين مطلقه دى ددې وجي په آخر دژوند كي به حانث وي او دده بي بي به مطلقه وي كه چيري هغه تردغه وخت پوري ژوندي پاته سوه كذا فى الدرالمختار والشامى. فقط

قسم يې وكى چه دفلاني دمنكوحى سره به نكاح كوم څه حكم دي؟ **سوال**: (۱۲۵) سلمه دبكر منكوحه ده خالد قسم وخوړی چه زه به دسلمه سره نكاح كوم نو دا قسم به لغوه وي اوكه نه؟ او خالد دبلي زنانه سره نكاح كولي سي اوكه نه؟

جواب: دقسم كفاره وركول لازم دي او دبلي زنانه سره نكاح كولي سي. (۲)

دفلانى زنانه څخه علاوه كه دبلي زنانه سره مي نكاح وكړه نو هغې ته طلاق: **سوال**: (۱۲۶) خالد وويل كه چيري ما دسلمه څخه علاوه دبلي زنانه سره نكاح وكړه نو هغه دي طلاقه وي نو اوس په څه حيلي سره نكاح كولي سي؟

جواب: په دي صورت كي به طلاق پردغه منكوحه باندي واقع سي. او ددي حيله فقهاؤ په ذريعه دفضولي ليكلي ده فليراجع. (۳)

كه دفلانى سره نكاح وكړم نو هغې ته به طلاق وي، دطلاق څخه وروسته دوباره نكاح جائز ده: **سوال**: (۱۲۷) عمر قسم وكى چه زه به دهندي سره نكاح نه كوم كه چيري مي وكړه نو زبيده دي طلاقه وي اوس كه چيري يو ځل يې په نكاح كي راولي نو طلاق به واقع سي نو بيا دوباره يې په نكاح كي راوستي سي اوكه نه؟

---

(۱) وفيه الكفارة الخ ان حنث الخ والاصح ان الحلف لم يكفر سواء علقه بماض او آت انكان عنده فى اعتقاده انه يمين وان كان جاهلا (الدرالمختار على هامش ردالمحتار كتاب الايمان ج۳ ص۲۲. ط. س. ج۳ ص ۷۰۸). ظ

(۲) الدرالمختار على هامش ردالمحتار باب اليمين فى الاكل والشرب ج۳ ص۱۴۲. ط. س. ج۳ ص۷۹۷. بل العلة فيه انه بعد ظهور الشهود لا يمكن التحليف وفى البزازية حلفه ليوفين حقه يوم كذا ولياخذن بيده ولا ينصرف بلا اذنه فاوفأه اليوم ولم ياخذ بيده وانصرف بلا اذنه لا يحنث لان المقصود هو الايفاء اهـ (ردالمحتار باب ايضا). ظفير

(۳) وفيه الكفارة الخ ان حنث (الدر المختار على هامش ردالمحتار كتاب الايمان ج۳ ص۲۲. ط. س. ج۳ ص۷۰۸). ظفير

جواب: دا قسم به په يوه وار كي ختم سي دوباره نكاح دزبيدي سره كولي سي: وفيها كلها تنحل اى تبطل اليمين ببطلان التعليق اذا وجد الشرط مرة الخ. (۱)

باب النذور

نذر او محنت كول او ددي متعلق احكام او مسائل

<u>ديو حيوان نذر يې كړى وو چه كله هغه مړ سي نو څه به كوي؟</u> سوال: (۱) يو فقير سړي يو معين حيوان نذر كړى يو څو ورځي وروسته نذر كړل سوي حيوان هلاك سو آيا تاوان دبل حيوان پردغه مذكوره سړي باندي لازم راځي اوكه څه؟

جواب: تاوان ساقط دي او دبل حيوان پرده صدقه كول لازم نه دي كما فى البدائع ان المنذورة لو هلكت اوضاعت تسقط التضحية بسبب النذر غير انه ان كان موسرا تلزمه اخرى بايجاب الشرع ابتداءاً لا بالنذر ولومعسراً لاشيئ عليه اصلاً. ردالمحتار جلد۵. (۲)

<u>دبزرګ دپاره نذر اودهغه دغوښي حكم</u>: سوال: (۲) زيد ديو بزرګ نذر دوې بيزې ومنلي او پر قبر باندي يې ذبح كړي او غوښه يې تقسيم كړه آيا داغوښه شرعًا حلاله ده يا حرامه؟ او پرخوړونكو او نذر كوونكو باندي شرعًا څه حكم دي؟

جواب: نذر دغير الله حرام دي او چه كم حيوان دغير الله دتقرب دپاره نذر ومنل سي او ذبح كړل سي نو هغه به په: وما اهل به لغير الله، كي داخل وي او حرام دى. په درمختار كي دي: وما يوخذ من الدراهم والشمع والزيت ونحوها الى ضرائح الاولياء الكرام تقربا اليهم فهو بالاجماع باطل وحرام الخ وفى الشامى قوله: باطل وحرام بوجوه منها انه نذر لمخلوق والنذر للمخلوق لايجوز لانه عبادة والعبادة لا تكون لمخلوق الخ (۳) وفى الحديث ملعون من ذبح لغير الله الحديث.

<u>دنذر دغوا دبچي حكم</u>: سوال: (۳) دنذر سوي غوا څخه بچي پيدا سو ددي څه حكم دي؟

جواب: دغه بچي هم ددغه نذر كړل سوي غوا په حكم كي دي كما فى الدر المختار كتاب الاضحية ولدت الاضحية ولداً قبل الذبح يذبح الولد معها الخ وفى الشامى لان الام تعينت للاضحية والولد يحدث على صفات الام الشرعية الخ (۴).

---

(۱) حلف لايتزوج فزوجه فضولى فاجاز بالقول حنث وبالفعل لا يحنث به يفتى الخ كل امرأة تدخل فى نكاح فكذا فاجاز نكاح فضولى بالفعل لايحنث (الدرالمختار على هامش ردالمحتار مطلب حلف لا يتزوج فزوجه فضولى ج۳ ص۱۸۸. ط. س. ج ۳ ص۸۴۲). ظفير

(۲) ردالمحتار كتاب الصوم ج ۲ ص۱۷۵. ط. س- ج ۲ ص ۴۳۹. ظفير

(۳) ردالمحتار كتاب الاضحية ج ۵ ص ۲۸۴. ط. س. ج ۲ ص ۳۲۵. ظفير

(۴) ردالمحتار كتاب الاضحية ج ۵ ص ۲۸۱ – ۲۸۲. ط. س. ج۲ ص۳۲۲. ظفير

دمتعین مقدار خوراک نذر اودهغه حکم: **سوال**: (۴) یو سړي داسي نذر وکی چه دطعام په وخت کي یعني غداً او عشاءً په یوه وخت کي که چیري دیوې نیمي ډوډۍ څخه زیاته مي وخوړه نو یوه روژه دنذر به نیسم لیکن دا وینا ورته یاده نه سوه چه ترفلانی تاریخ پوري نذر کوم پنځه اووه منټه وروسته یې وویل چه ترفلاني ورځي پوري نذر کوم نو نذر تر کمه وخته پوري مقرر سو آیا دتمام عمر دپاره خو نه سو؟

جواب: اول په نذرکي چونکه څه لفظ ددوام او همیشه والي ده نه دي ویلی ددي وجي دیوي ورځي دپاره دغه نذر منعقد سو بیا چه یې کله دا وویل چه ترفلاني تاریخ پوري دا نذر کوم نو ترهغه ورځي پوري به دغه نذر پاته کیږي ددې څخه وروسته به نذر نه لازمیږي. (۱)

دسوال زیات تفصیل: **سوال**: (۵) (مکرر متعلق ترنمبر ۴ پوري) اواز راته یاد دي چه دنذر دالفاظو په شروع کي مي دا لفظ هم ویلي وو که چیري دنن څخه شروع په یوه وخت دیوې ډوډۍ څخه زیات خوراك وکم الخ دا لفظ په همیشه والي دلالت کوي او که نه؟ باید ووایم چي ددي وینا هم یقیني نه ده.

(۲) دغه سړي چه پنځه اووه منټه وروسته دا لفظ ووایه چه ترفلاني ورځي پوري نذر کوم نو دا الفاظ دسابقه نذر سره به ملحق کیږي اوکه جدید نذر به په دغه الفاظو سره منعقد سي؟

جواب: که چیري بالفرض دغه لفظ هم دنذر په شروع کي وي چه که چیري دنن څخه واخلي الخ بیا هم چونکه څه لفظ ددوام او همیشه والي دنذر یې نه دي ویلي ددي وجي دغه نذر ددغه ورځي متعلق سو ځکه چه دانتها څه بیان نه دي کړل سوي او داحکم په صورت دیقین کي دي او په شك سره څه حکم نه ثابتیږي (۲) او دویم جزء نذر جدید دی ملحق په نذر اول پوري نه دي ددي وجي دغه نذر به تردغه قدر ورځو پوري وي کمي چه ده ذکر کړیدی. فقط

دنذر په قربانۍ سره نفس واجب قرباني نه ادا کیږي: **سوال**: (۲) یو چا په دې ډول نذر ومنی چي که چیري دهغه غوایي له امله چي دوشیق په نامه دی دعوامو او جهالو په

---

(۱) ومن نذر نذرا مطلقا اومعلقا بشرط وکان من جنسه واجب ای فرض وهو عبادة مقصودة ووجد الشرط المعلق به لزم النذر الحدیث من نذر وسعی فعلیه الوفاء بما سمی کصوم وصلاة الخ (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار مطلب فی احکام النذر ج۳ ص۹۱، ط. س. ج۳ ص۷۳۵). ظفیر

(۲) نذر ان یتصدق بعشرة دراهم من الخبز فتصدق بغیره جاز ان یساوی العشرة کتصدق بثمنه (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار کتاب الایمان مطلب فی احکام النذر ج۳ ص۹۲. ط. س. ج۳ ص۷۴۱). ظفیر

نزد، له ناروغی ښخه جوړ سوم قسم په الله چي هغه به دقرباني په وخت قرباني کړم په داسي حال کي چي دغه مذکور شخص طاقت لري نوپه دې وخت کي دهغه نذر صحيح دی اوکه نه؟ اوپر هغه بله قرباني واجب ده اوکه نه هغه ذکر سوی غوايي کفايت کوي؟

جواب: قال في ردالمحتار: قال في البدائع ولو نذر أن يضحي شاة وذلک في أيام النحر وهو موسر فعليه أن يضحي بشاتين عندنا شاة للنذر وشاة بإيجاب الشرع ابتداء إلا إذا عنى به الإخبار عن الواجب عليه فلا يلزمه إلا واحدة ولو قبل أيام النحر لزمه شاتان بلا خلاف الخ ج۵ ص۲۰۳ كتاب الاضحية (۱) نوپه صورت مسئوله کي که چيري ذکر سوی نذر دقرباني دورځو ښخه مخکي واقع سي نو دذکر سوی غوايي دقرباني کولو سره سره به يوه بله قرباني کول هم پرده باندي واجب وګرځي. فقط

نذر يې ومنی او دهغه قيمت يې ورکړی نو نذر ادا سو؟ **سوال**: (۷) زيد نذر ومنی چه که چيري زما هلك پيدا سو نو يوه غوا به صدقه کوم هلك پيدا سو زيد که دغوا قيمت وخت په وخت فقيرانو او مسکينانو ته ورکړی نو آيا زيد دنذر ښخه بري سو اوکه نه؟ که چيري په پنځلس کاله کي قيمت ادا کړي نو آيا دولادت په وخت چه کم قيمت دغوا وو هغه ادا کړي اوکه في الحال چه کم قيمت دي؟

جواب: دقيمت په ادا کولو سره زيد بري الذمه سو او چه په کمه موده کي وغواړي ددي قيمت ادا کړي نو درسته ده. (۲) او دقيمت دادا کولو په وخت چه يې څه قيمت وي هغه ورکول په کار دي. فقط

دهم کفو هلک په پيدا کيدو باندي نذر: **سوال**: (۸) زيد دا نذر کړي وه که چيري هللك مولوي زما کفو پيدا سي نو زه نذر کوم که چيري هلك پيدا سو نو ددين علم به ورته لولم دوعظ او نصيحت دپاره به يې پريږدم اوکه جينۍ پيدا سوه نو به دانجلي دکفو سره چي عالم وي نکاح کوم زما په قوم کي هلك مولوي نه پيدا يږي چه عمر يې شل يا دوه ويشت کاله وي اوس څه وکړم؟

جواب: دانذر شرعًا صحيح نه سو نودخپلي لور نکاح چه چيري مناسبه وي او چه کم هلك

(۱) ردالمحتار كتاب الاضحية ج ۵ ص ۲۷۹. ط. س. ج ۶ ص ۳۰۲. ظفير

(۲) من نذر نذراً مطلقا او معلقا بشرط وكان من جنسه واجب وهو عبادة مقصودة (درمختار) وفی البدائع ومن شروطه ان يكون قربة مقصودة فلايصح النذر بعيادة المريض وتشيع الجنازة والوضوء الخ (ردالمحتار كتاب ايضا ج۳ ص۹۱. ط. س. ج۳ ص۷۳۵) واعلم ان النذر الذی يقع للاموات من اكثر العوام وما يؤخذ من الدراهم والشمع والزيت ونحوها الى ضرائح الاولياء الكرام وتقربا اليهم فهو بالاجماع باطل وحرام (الدرالمختار على هامش ردالمحتار كتاب الصوم ج۲ ص۱۷۵. ط. س. ج ۲ ص۴۳۹). ظفير

لایق وي وکړه دنذر هیڅ خیال مه کوه. فقط

دمړو اوریدل او داولیاء کرامو نذر: **سوال**: (۹) دمړو اوریدل او داولیاؤ نذر منل جائز دي اوکه نه؟

جواب: دمړو اوریدلو مسئله مختلف فیه ده چه معروفه ده اودغیر الله نذر جائزنه دی. (۱)

نذر پوره نه سو نو دنذر دروپو څه حکم دی؟ **سوال**: (۱۰) دیو سړي مور بیماره وه ده نیت وکی چه که مور مي جوړه سوه نو زه به دالله تعالی دپاره په مسجد کي څلوېښت روپۍ ورکوم نو دده مور دجوړیدو څخه بغیر وفات سوه نو دغه روپۍ په مسجد کي دي ورکړي اوکه په دې سره په خاندان باندي ډوډۍ وخوري؟

جواب: ددغه سړي څلویښت روپۍ ورکول دالله تعالي دپاره غوره دي په مسجد کي دي ورکړي یا محتاجو ته دي ورکړي (۲) په دي کي ثواب دي لیکن دخاندان په ډوډۍ کي خرچ کول درست نه دي اوپه دې کي هیڅ ثواب نسته.

دنذر غوښه دفقیرانو حصه ده: **سوال**: (۱۱) دیوچا هلك ناروغ سي او داسي نذر وکړي که چیري زما هلك ښه سو نودومره بیزی به قرباني کوم داغوښه دغني دپاره جائزده اوکه نه؟

جواب: دنذر غوښه دفقیرانو حق دي غني ته یې نه دي ورکول په کار. (۳)

دنذر غوښه خپله خوړل جائز نه دي: **سوال**: (۱۲) یو سړي په مصیبت کي نذر کړي وه چه که الله ددي مصیبت څخه ماته نجات راکړي نو ستا په نوم به یو سرلي ذبح کوم یا دیوي روپی شیریني به تقسیموم په کار پوره کیدو باندي چي سرلي ذبح کړي غوښه په مسکینانو باندي تقسیم کړي اوکه په خپله هم یې خوړلي سي؟ او دا سړي مالدار دي.

جواب: په محتاجو باندي یې تقسیمول په کار دي. (۴)

---

(۱) من نذر نذراً مطلقا اومعلقا بشرط الخ وجد الشرط المعلق به لزم الناذر الخ كصوم وصلاة وصدقة (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار احکام النذر ج۳ ص۹۱. ط. س. ج۳ ص۷۳۵) ددې څخه معلومه سوه چه پرذمه ضروری نه ده خو په نیت دایصال ثواب په جماعت کي یې لګول یا غریبانو ته یې ورکول بهتر دی. ظفیر

(۲) ناذر المعینة ولو فقیر لو ذبحها الخ ولا یاکل الناذر منها (الدر المختار علی هامش ردالمحتار کتاب الاضحیة ج۵ ص ۲۷۹ – ۲۸۰. ط. س. ج۳ ص۳۲۰) وفی القنیة هذا التصدق علی الاغنیاء لم یصح ما لم ینو ابناء السبیل (ایضا کتاب الایمان ج۳ ص۹۳. ط. س. ج۳ ص۷۳۷) ددی نذر هغه مصرف دی کم چه دزکوة دی: مصرف الزکوة الخ وهو مصرف ایضا لصدقة الفطر والکفارة والنذر وغیر ذلك من الصدقات الواجبة (ردالمحتار باب المصرف ج۲ ص۷۹. ط. س. ج۲ ص۳۳۹). ظفیر

(۳) ناذر لمعینة ولو فقیراً تصدق بلحمها الخ ولا یاکل الناذر منها (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار کتاب الاضحیة ج۵ ص۲۷۹. ط. س. ج۲ ص۳۲۲). ظفیر

(۴) ولو قال لله عليّ ان اذبحجزورا وتصدق بلحمه فذبح مکانه سبع شیاه جاز وجهه لا یفی (درمختار) ووجهه لا یخفی هو أن السبع تقوم مقامه مقامه فی اضحایا والهدایا (ردالمحتار کتاب الایمان ج۳ ص۹۲. ط. س. ج۳ =

دنذر مطلق په غوا کي دقرباني شرطونه سته اوکه نه؟ **سوال:** (۱۳) دنذر مطلق دغوا او بيزې دقرباني په شان ددوه کالو او دعيبونو څخه پاك او بري کيدل شرط دي اوکه نه؟

جواب: دغوا او بيزی وغيره نذر ددي وجي څخه صحيح دي چه ددي حيوانانو قرباني کيدي سي نو لهذا دقرباني شرطونه موجوديدل په نذر مطلق کي ضروري دي البته نذر معين چه دچشي وکړي هم دغه متعين دي.

دنذر په قرباني کي دشرائطو لحاظ: **سوال:** (۱۴) دنذر په حيوانانو کي دقرباني شرائط ملحوظ دي اوکه نه؟ که څوك نذر وکړي چي غوا دالله تعالي دپاره ذبح کړي يا هغه غوا دالله تعالي دپاره ذبح کړي يا يې فقير ته ژوندي ورکړي؟

جواب: دنذر په حيوان کي دقرباني شرائط ملحوظ دي او په نذرکي دغوا ذبح کول او صدقه کول دواړه جائز دي. ([1])

دنذر حيوان به څنګه وي؟ **سوال:** (۱۵) دنذر حيوان دقرباني دحيوان په شان په کار دي اوکه نه؟

جواب: دا احوط دي چه منذور حيوان دقرباني دحيوان په شان وي ځکه چه دمنذور حيوان فقهاؤ پراضحيه باندي دقياس کولو تصريح کړي ده. شامي. ([2])

دنذر نفل لمونځ به په ولاړه کوي اوکه په ناسته؟ **سوال:** (۱۲) چه کم سړي نذر وکړي که چيري الله تعالي زما فلاني کار پوره کړی لس رکعته نفل به کوم نو ددغه نفلونو په ولاړه ادا کول واجب دي اوکه په ناسته يې هم ادا کولي سي؟

جواب: که چيري طاقت وي نو په ولاړه يې ادا کول په کار دي. ([3])

دشيرينو دتقسيمولو نذر اود هغه حکم: **سوال:** (۱۷) يو سړي نذر وکی که چيري زما فلاني کار وسو نو دومره شيريني به تقسيموم دکار پوره کيدو څخه وروسته شيريني به تقسيموي اوکه تيل لوټه صف وغيره هم په مسجد کي کنبيښولي سي؟

جواب: شيريني تقسيمول ضروري نه دي پرفقيرانو او مسکينانو باندي هغه رقم صدقه کولي سي ([4]) دمسجد دپاره يوشي ددغه رقم څخه اخيستل او ورکول نه دي پکار. ([5])

= ص۷۴۰). ظفير

([1]) قال في البدائع اما الذي يجب على الغني والفقير فالمنذور به بان قال لله على ان اضحى شاة اوبدنة او هذه الشاة او البدنة اوقال جعلت هذه الشاة اضحية لانها قربة من جنسها ايجاب الخ فتلزم بالنذر كسائر القرب والوجوب بالنذر يستوى فيه الغني والفقير الخ (ردالمحتار كتاب الاضحية ج۵ ص۲۷۹. ط. س. ج۲ ص۳۲۰).

([2]) ولو قال لله على ان اذبح جزورا واتصدق بلحمه فذبح مكانه سبع شياه جاز ووجهه لا يخفى (درمختار) هو ان السبع تقوم مقامه في الضحايا والهدايا (درالمختار احكام النذر ج۳ ص۹۵ ط.س. ج۳ ص۷۴۰). ظفير

([3]) ددی دپاره چه پوره ثواب ورته ورسيږي. ظفير =

<u>دنذر په حيوان كي دعمر لحاظ</u>: **سوال**: (۱۸) چه كله دچا هلك ناروغ سي نو يو سرلي يا غوا ذبح كړي اوپه محتاجو باندي تقسيم كړي يا نذر ومني چه ای الله كه چيري زما هلك ښه سو نوزه به يو سرلي يا غوا ذبح كوم اوپه محتاجو باندي به يې خورم نو سرلي ديوه كال څخه كم اوغوا ددوو كالو څخه كم ذبح كول جائز دي اوكه نه؟

جواب: په دي صورت كي اګر چه نذر او مننه كړل سوي ده نو سرلي ديوه كال او غوا ددوو كالو پكار دي دقربانۍ په شان سره. ([1])

<u>دغوا دصدقه كولو نذر يې ومنی نو دعمر لحاظ به كوي</u>: **سوال**: (۱۹) يو چا نذر ومنی كه چيري زما ښځي ته الله تعالي صحت وركړي نو دالله تعالي په نوم باندي به يو پسه يا يوه غوا صدقه كړم وروسته له صحت څخه يو كلن پسه ضرور دی اوكه دوه كلنه غوا؟

جواب: په دي باره كي كم عبارت په نظر نه دی راغلي داضحيې په قياس سره بايد پسه ديوه كال او غويي ددوو كلونو وي او احوط كيدل يې دترددد محل نه دی. ([2])

<u>دنذر دقربانۍ دغوښي حكم</u>: **سوال**: (۲۰) يو سړي دقربانۍ كولو نذر ومنی نو ددغه قربانۍ ټوله غوښه به خيراتيږي اوكه موږ يې خپله هم استعمالولي سو او مالدارو ته يې هم وركولي سو؟

جواب: ددي ټوله غوښه صدقه كول او محتاجو ته يې وركول پكار دي. ([3])

<u>دنذر په حيوان كي دعمر قيد</u>: **سوال**: (۲۱) زيد نذر ومنی كه چيري زما هلك الله تعالي جوړ كړی نو زه به يوه بيزه يا دا بيزه يا فلانۍ سپينه بيزه صدقه كوم نو په دي صورتونو كي عمر دبيزې دقربانۍ په شان شرط دي اوكه نه؟

جواب: په دي بيزې كي دقربانۍ دشرطونو لحاظ پكار دي البته كه چيري يوه بيزه يې متعينه كړيده نو هغه په هرحال كي دنذر دپوره كولو دپاره ذبح كولي او صدقه كولي سي. كه دقربانۍ شرطونه پكښي وي اوكه نه. ([4])

([4]) نذر لفقراء مكة جاز الصرف لفقراء غيرها لما تقرر في كتاب الصوم ان النذر غير المعلق لا يختص بشيء (درمختار) وكذا يظهر منه انه لا يتعين فيه المكان والدرهم والفقير (ردالمحتار مطلب احكام النذر ج۳ ص۹۲. ط. س. ج ۳ ص ۷۴۰). ظفير

([5]) ځكه چي نذر دتصديق قابل دي او دا دفقيرانو حق دي په جماعت باندي ددي خرڅول صحيح نه دی. ظفير

([1]) ولو قال لله علی ان اذبح جزوراً وتصدق بلحمه فذبح مكانه سبع شياه جاز (الدر المختار علی هامش ردالمحتار ج۳ ص۹۲. ط. س. ج۳ ص ۷۴۰). ظفير

([2]) ايضاً ط. س. ج ۳ ص ۷۴۰. ظفير

([3]) مصرف الزكوة والعشر الخ وهو مصرف ايضا لصدقة الفطر والكفارة والنذر وغير ذلك من الصدقات الواجبة (ردالمحتار باب المصرف ج۲ ص۷۹. ط. س. ج۲ ص۳۳۹). ظفير

([4]) ولوقال لله علی ان ذبح جزورا واتصدق بلحمه فذبح مكانه سبع شياه جاز ووجهه لايخفی (درمختار) وهو ان =

مور دزوی دغوئي دقرباني، نذر وکی زوی راضي نه دي نو څه به کوي؟ سوال: (۲۲) دخالد دوه غویان بیمار سول دده مور نذر ومنی که چیري دا غویان ښه سول نو یو غویی به قرباني کوم چه کله غوایان ښه سول نو خالد خپله مور دنذر دپوره کولو څخه منع کوي دنذر پوره کول به څنګه وي؟

جواب: دخالد په مملوکه غوایانو کي دخالد داجازت څخه بغیر دده مور هیڅ یو غوئي ذبح کولي نه سي. بلکه دا دي بل غوئي واخلي او ذبح دي کړي او نذر دي پوره کړي ځکه چه دبل چا په ملك کي ددي اختیار نسته نوکه چیري دده دمور غرض دنذر څخه دا وو چه دا به ددوو غویانو دخالد څخه یو ذبح کوي نو دغه نذر منعقد نه سو ([1]) لقوله علیه السلام لا نذر لابن آدم فیما لا یملك الحدیث او کما قال ﷺ اوکه چیري دمطلق غوئي ذبح کول یې نذر کړي وو نو نذر صحیح سو نوپه دي صورت کي دي بل غوئي واخلي او نذر دي پوره کړي.

دهر لمانځه څخه وروسته ددوه رکعته نفلو نذر یې ومنی څه به کوي؟ سوال: (۲۳) زید نذر کړي وو که چیري زما فلاني کار پوره سو نو دهر لمانځه څخه وروسته دوه رکعته لمونځ به کوم دالله تعالي په فضل دده کار پوره سو نوزید دخپل نذر موافق ترڅو ورځو پوري دپنځو نذرونو دا پر یوه ځای ډېل ډېل ادا کول بیا کله کله قضا هم سوه کرار کرار بالکل ورڅخه پاته سو اوس حساب هم یاد نه پاته سوي چه څومره دي قضا سول او څومره یې ادا کړل دتیرو سوو لمونځونو متعلق څه وکړي چه دهغو حساب هم یاد نه دي پاته او آینده هم ددغه نذر ډېل ادا کول لازم دي اوکه ددې څخه دخلاصون بل یو صورت کیدي سي؟

جواب: په داسي قسم سره نذر لازمیږي او پوره کول ددي لازم دي چه کم نفلونه په ډېل وخت کي نه دي ادا سوي دهغو قضا لازمه ده ([2]) او په ژوند کي فدیه ورکول ددغه لمونځونو درسته نه ده دفدیي وصیت دمرګ په وخت لازمیږي چه دومره قدر دوه رکعتیز لمونځونه زما پر ذمه پاته دي ددي فدیه زما دمال څخه ورکړئ دهر یوه دوګانه

= السبع تقوم مقامع فی الضحایا والهدایا (ردالمحتار مطلب احکام النذر ج۳ ص۹۲. ط. س. ج۳ ص۷۴۰). ظفیر

([1]) نذر ان یتصدق بالف من ماله وهو یملك دونها لزمه ما یملك منها فقط هو المختار لانه فیما لم یملك لم یوجد النذر الخ قال مالی فی المساکین صدقة ولا مال لم یصح اتفاقا (درمختار) وشرط صحة النذر ان یکون المنذور ملکا للناذر (ردالمحتار مطلب فی احکام النذر ج۳ ص۹۷ ط. س. ج۳ ص۷۴۱). ظفیر

([2]) ان رسول الله ﷺ قال من نذر ان یطع الله فلیطعه (مشکوة باب فی النذور ج۲ ص۲۹۷) فیه دلیل علی من نذر طاعة یلزم الوفاء به (حاشیه مشکوة). ظفیر

فدیه دصدقة الفطر په مثل د ۸۰ په وزن پاوکم دوه سیره غنم تقریباً جوړیږي دهر یوه دوګانه په عوض کي دي وارث دغه قدر غنم یا ددي قیمت ادا کړي دا خو دبعد الموت حکم دي په ژوند کي ماسوا دادا کولو یعني قضا راوړلو ددغه دوو رکعتو بل هیڅ صورت دخلاصون نسته نو اوس دي داسي وکړي چه ائنده دي دهر لمانځه سره دوګانه منذوره ادا کړي لیکن دکومو لمونځونو څخه وروسته چي نفل لمونځ درست نه دي لکه دفجر او عصر لمونځ په دې کي دي داسي وکړي چه دعصر څخه مخکي دي ادا کړي او دفجر څخه وروسته دوګانه دي دلمر راختلو څخه وروسته یا دسپیدو څخه مخکي ادا کړي او دباقي لمونځونو څخه وروسته دي دغه دوګانه ادا کړي او دمخکي فوت سوؤ دوګانو تخمین دي وکړي چه دکله څخه یې نه دي لوستلي دهر یوه شباروز پنځه دوګانه واجب دي ده ته چي څومره قدر ممکنه وي هغه دي وکړي او بیا ددي په اندازه کي چه څومره باقي پاته سي دهغه دپاره دي وصیت وکړي چه دومره قدر فدیه ددوګانه دي زما څخه وروسته ادا کړل سي. ([1])

دزیوراتو دصدقې دنذر په صورت کي قیمت ورکول څنګه دي؟ سوال: (۲۴) په حالت مرض کي دمریض دطرف څخه څه زیورات اونور دصدقي دپاره وایستل سول دمریض دصجت مندی څخه وروسته دمریض په رای سره ددي قیمت معلومول او صدقه کول او مذکوره اشیاء په خپل صرف کي را ایستل درست دي اوکه نه؟

جواب: دقیمت ورکول په دي صورت کي درست دي کذا في الدر المختار ([2])

دمتاېي نذر یې وکی نو ددي دقیمت څخه کپړه جوړول او ورکول جائز دي: سوال: (۲۵) چا نذر وکی که چیري زما کار وسي نو زه به ددومره نقدو پیسو پتاسې په هلکانو تقسیموم که چیري دا خیال وکړي چه په دې کي هیڅ قدر فائده نسته دیو مسکین دپاره یې کپړې جوړی کړي یا یو مسکین ته یې نقدي ورکړي نو نذر ادا سو اوکه نه؟

جواب: په دي صورت کي به نذر ادا سي دپتاسو تخصیص نسته کذا فی الدر المختار: نذر ان یتصدق بعشرة دراهم من الخبز فتصدق بغیره جاز ان ساوی العشرة کتصدقه بثمنه الخ. ([3])

([1]) ولو نذر الصوم الابد فاکل لعذر فدٰی (درمختار) فاکل لعذر وکذا لدونه قوله فدی لکل یوم نصف صاع من بر اوصاعا من شعیر وان لم یقدر استغفر الله تعالی کما مر (ردالمحتار کتاب الایمان ج۳ ص ۹۷. ط. س. ج ۳ ص۷۴۱). ظفیر

([2]) وکذا یظهر منه لا یتعین فیه المکان والدرهم والفقیر لان التعین انما اثر فی انعقاد السبیة فقط (ردالمحتار ج۳ ص۹۲) نذر ان یتصدق بعشرة دراهم من الخبز فتصدق بغیره جاز ان ساوی کعشرة کتصدق بثمنه (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار مطلب فی احکام النذر ج۳ ص۹۲. ط. س. ج۳ ص۷۴۱). ظفیر

([3]) الدرالمختار علی هامش ردالمحتار کتاب الایمان ج۳ ص۹۲ ط. س. ج۳ ص۴۴۱. ظفیر

دنذر خوړل دمحتاج حق دي: **سوال**: (۲۶) يو پوهه سړي نوي فتوي ايجاد کوي چه دنذر الله او دايصال ثواب خوړل دمحتاجو فقير او وغيره حق دي مالدار او آسوده حال ته ناجائز دي دا صحيح دي اوکه غلط؟

جواب: دا صحيح دي چه دنذر الله او ايصال ثواب خوړل او نقدي وغيره دفقيرانو مسکينانو حق دي په اميرانو او رئيسانو باندي يې خوړل نه دي پکار. (۱)

که دتاريخ څخه مخکې نذر پوره کړي نو؟ **سوال**: (۲۷) زيد نذر ومنی چه زه به دخپلي ميبنې ټولي شيدې په يولسم تاريخ خيرات کوم که چيري دغه قدر شيدې دمعين تاريخ څخه مخکې خيرات کړي نو جائز دي اوکه نه؟

جواب: مخکې خيرات کول يې هم درست دي. (۲)

دپلار کونډې ته دنذر روپۍ ورکول جائز دي: **سوال**: (۲۸) زيد دخپل مقصد کاميابۍ په عوض کې لس روپۍ دالله تعالي په نوم باندي دنذر په طور يا په منني سره ورکولي، اتفاقاً دده مور چه کونډه ده او په قوم سيده ضرورتمنده ښځه ده که چيري زيد دغه روپۍ دې ته ورکړي نو منته به پوره سي اوکه نه او حال دا چه دا سيده ده ديته دا صدقه ورکول جائز دي اوکه نه؟

جواب: دميريزۍ موروالي په وجه خو ديته دنذر روپۍ ورکول ممنوع نه وه ليکن دسيده کيدو په وجه ديته ورکول ممنوع دي ځکه چه دنذر دروپيو حکم دزکوة په شان دي او دنذر دروپيو او دزکوة مصرف يو دی. (۳)

دنذر دقرباني دادا کولو څخه مخکې واجبه قرباني نه ادا کيږي: **سوال**: (۲۹) چا نذر ومنی که چيري زما فلاني کار وسو نو دلوی اختر په ورځ غوا يا بيزه به قربانوم اوس که چيري دده کار وسو نو پرده باندي دغه غوا يا بيزه قرباني کول واجب به وي او که نه که چيري واجب وي نو کمه قرباني چي دنصاب دمالك کيدو په وجه سره واجبه سوي ده هغه هم ورسره ادا کيږي اوکه نه؟

جواب: که چيري دغه سړي صاحب نصاب وي چه پرده باندي دمخکې څخه قرباني واجبه

---

(۱) مصرف الزکوٰة الخ وهو ايضا مصرف لصدقة الفطر والکفارة والنذر وغير ذلك من الصدقات والواجبة (درالمختار باب المصرف ج۲ ص۷۹. ط. س. ج۳ ص۳۳۹). ظفير

(۲) فلو نذر التصدق يوم الجمعة بمكة بهذا الدرهم على فلان فخالف جاز وكذا لو عجل قبله فلو عين شهر للاعتكاف او للصوم فعجل قبله عنه صح، وكذا لو نذر ان يحج سنة كذا فحج سنة قبلها صح الخ لانه تعجيل بعد وجرد السبب وهو النذر ليلغو التعين. (ردالمحتار كتاب الايمان ج۳ ص۹۲. ط. س. ج۳ ص۷۴۱). ظفير

(۳) مصرف الزکوة الخ وهو مصرف ايضا لصدقه الفطر والكفارة والنذر الخ (ردالمحتار باب المصرف ج۳ ص۹۲). ظفير

ده نو دنذر کولو په صورت کي په ده باندي دوې قربانیاني کول په کار دي *کذافی الشامی* ([1]).

<u>په نذر معین کي دغوښي پرځاى ژوندي حیوان ورکول</u>: **سوال**: (۳۰) یوچا نذر معین کړي دی چي فلاني ورځ یا هره میاشت به پسه حلالوم او هغه تراوسه نه دی ذبح کړی ایا هغه حلال کړي په مسکینانو باندي تقسیم کړي اوکه یې ژوندي یو مسکین ته ورکړي دا قول جائزدي اوکه نه؟ آیا ددي عوض دپسه قیمت نقد ورکول یاغنم ورکول جائز دي اوکه نه؟

جواب: برابره خبره ده که یې حلال کړي صدقه کوي یې یا یې ژوندي یا یې قیمت صدقه کړي ټول جائز دي. ([2])

<u>په مسجد کي دسرو زرو دڅراغ بلولو نذر منل</u>: **سوال**: (۳۱) عمر نذر ومنی که چیري زما فلانی مراد پوره سو نو دخپل پیر په مسجد کي به دسروزرو څراغ بلوم ددي نذر پوره کولو څخه وروسته دغه څراغ دمسجد په کار کي صرف کړل سي اوکه یې څوك مستحق دی؟

جواب: دغه څراغ دي دمسجد په خرڅ کي راوستل سي دغه دمسجد سوه.

<u>دقبض کولو څخه بغیر دقرضدار په معاف کولو سره نذر نه ادا کیږي</u>: **سوال**: (۳۲) قرض غوښتونکی مقروض مفلس ته وایي چه زما دوه ویشت روپی چه ستا پرذمه قرض دی دهغه څخه دولس نیمی روپی دنذر معین په عوض ما ساقطي کړي مخکي ترقبض کولو دقرض آیا نذر ادا کیدي سي؟

جواب: دنذر معین او نذر مطلق مصارف هم هغه دي کم چه دزکوة دي لکه څنګه چه دشامي په باب المصرف کي دي: وهو مصرف ایضا لصدقة الفطر والکفارة والنذر الخ ([3]) نولکه څنګه چي په مذکوره طریقه زکوة ادا نه سو نو نذر هم ادا نه سو په شامي کي دي: وفی صورتین لا یجوز الاولی اداء الدین عن العین کجعلهما فی ذمة مدیونه زکوة لما له الحاضر الخ ([4]) وفی الدر المختار وحیلة الجواز ان یعطی دیونه الفقیر زکوته ثم یاخذها عن دینه. ([5])

([1]) ولونذر ان یضحی شاة وذلك فی ایام النحر وهو موسر فعلیه ان یضحی بشاتین عندنا شاة بالنذر وشاة لایجاب الشرع ابتداء (ردالمحتار کتاب الاضحیة ج۵ ص۲۷۹ – ۲۸۰. ط. س. ج۲ ص۳۲۰). ظفیر

([2]) ولو ترکت الاضحیة ومضت ایامها تصدق بها حیة ناذر فاعلی تصدق لمعینه ولو فقیراً ولو ذبحها تصدق بلحمها تصدق بقیمة النقصان ایضا ولا یاکل الناذر منها فان اکل تصدق بقیمة ما أکل (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار کتاب الاضحیة ج۵ ص۲۸۹ – ۲۸۸. ط. س ج۲ ص۳۲۰). ظفیر

([3]) ردالمحتار باب المصرف ج۲ ص۷۹. ط. س. ج۲ ص۳۳۹. ظفیر

([4]) ردالمحتار کتاب الزکوة ج۲ ص۱۲. ط. س. ج۲ ص۲۷۱. ظفیر

([5]) الدر المختار علی هامش ردالمحتار کتاب الزکوة ج۲ ص۱۲. ط. س. ج۲ ص۲۷۱. ظفیر

دغوا په ذبح کولوکي دنيت اعتبار: **سوال**: (۳۳) زيد په خپله بيماری کي نيت وکی که چيري الله تعالي شفا ورکړي نو يوه غوا به ذبح کړم اوپه محلي والاوو باندي به يې وخورم يا عمر نيت وکی که چيري زما مقصود حاصل سي نو دلسو روپو شيريني به په مسجد کي په لمونځ کوونکو باندي خورم اوس دمقصود حاصلولو څخه وروسته او دمرض دشفا څخه وروسته به دا نذر څنګه ادا کوي، ددي وجي چه په محلي والاوو او دمسجد په لمونځ کوونکو کي ډير صاحب نصاب هم دي که چيري يې په صاحب نصابو باندي هم وخوري نو نذر به ساقط سي اوکه نه او داسي قسم خوراك والا او په بل باندي خوړلو والا دګناه کبيره مرتکب دي اوکه نه؟

جواب: په درمختار کي دي: ولو قال ان برئت عن مرضی هذا ذبحت شاة او علی شاة اذبحها فبرئ لا يلزمه شيء الا ان يقول فللّه علی ان اذبح شاة الخ (۱) ددې څخه معلوميږي چه صيغه دنذر دا ده چه داسي ووايي چه دالله تعالي دپاره زما ذمه دا ده چه مثلاً غوا ذبح کړم او داهم مسئله ده چه صرف په نيت سره نذر نه کيږي چه ترڅو پوري په زبان سره دنذر صيغه ونه وايي، نوپه صورت مسئوله کي اول خو په نذر کيدو کي کلام دي اوکه چيري في الواقع ده نذر کړي دي نو بيا حکم دا دي چه په فقيرانو باندي دغه غوښه صدقه کول پکار دي داهل مکه قدر هم لازم نه دي او دمسجد دلمونځ کوونکو تخصيص هم ضروري نه دي چه کمو فقيرانو ته غواړي نو وردي کړي، په درمختارکي دي: نذر لفقراء مکة جاز التصرف لفقراء غيرها الخ (۲) وفی ردالمحتار وکذا يظهر انه لا يتعين فيه المکان والدرهم والفقير الخ ص۷۱ جلد نمبر۳ شامی (۳) حاصل دا چه څه يې نذر کړل هغه فقيرانو ته ورکول لازم دي که چيري ددې څخه څه مالدارو لره ورکړل سوه نو په دغه اندازه دي نورو فقيرانو ته ورکړي چه دده سره وي کنه نو دغه مقدار دنذر به دده پرذمه واجب پاته سي. او چه کله يې دغه مقدار فقيرانو ته ورکړی نو هيڅ ګناه پاته نه سوه.

ديو متعين حيوان نذر يې ومنی ددي ورکول کافي دي: **سوال**: (۳۴) يو سړي دکم عمره حيوان معين دصدقه کولو نذر معلق ومنی اوس مقصود حاصل سو فوراً دغه حيوان صدقه کول په کار دي اوکه داضحيه دعمر په لحاظ سره يې وروسته کړي؟

جواب: دځومره عمر په حيوان سره چه نذر معين دي همدغه ذبح کول کافي دي. (۴)

---

(۱) الدر المختار علی هامش ردالمحتار کتاب الايمان ج۳ ص۹۵. ط. س. ج۳ ص۷۳۹. ظفير

(۲) ردالمحتار کتاب الايمان ج۳ ص۹۷. ط. س. ج ۳ ص ۷۴۰. ظفير

(۳) ردالمحتار کتاب الايمان ج۳ ص۹۷. ط. س. ج ۳ ص ۷۴۰. ظفير =

په مسجد کي دپتاسو تقسيمولو نذر: **سوال**: (۳۵) چا وويل که چيري الله تعالي زما فلاني کار پوره کړي نو دجامع مسجد په لمونځ کوونکو به پنځه سيره پتاسی تقسيموم دا نذر سو اوکه وعده؟

جواب: دا نذر سو ليکن دپتاسو وغيره تعين ضروري نه دي ددي قيمت هم په فقيرانو صدقه کولي سي او دجامع مسجدبه هم تخصيص نه وي، کمافی الدر المختار والشامی۔ (۱)

دهلک په سلامتيا باندي نذر: **سوال**: (۳۶) زيد نذر ومنی که چيري زما هلك ژوندي او سالم پاته سو نو نهه کاله وروسته به دنهو ورونو شيريني دالله تعالي په نوم يا خوراك پخوم په مسکينانو او خپلوانو باندي به يې تقسيموم اوس زيد ددغه روپيو شيريني او خوراك تقسيم کړي اوکه دتعمير او طلباؤ په خرچه کي يې ورکولي سي اوکه نه؟

جواب: دشيرينيو او خوراك تخصيص لازم نه دي نقدي هم فقيرانو ته ورکولي سي کذا في الدرالمختار ليکن دمسجد په تعمير کي لګول ددي درست نه دي او طلباؤ او مسکينانو ته يې ورکولي سي. (۲)

په مسجد کي چه کمه مځکه ورکړي پرهغي دمدرسي جوړولو حکم: **سوال**: (۳۷) يو سړي څه مځکه دالله په نوم نذر کړه يا په مسجد کي يې ورکړه يا دبزرګانو دايصال ثواب دپاره يې ورکړه او نوره څه مځکه يې وقف کړه اوس دمحلي ټول خلق متفق سول ددغه مذکوره زمکی په آمدني سره يې يو مکتب جوړ کړی او يو استاد يې دلوستلو دپاره مقرر کړی او دمذکوره مځکي دآمدني څخه استاد ته تنخواه ورکول درست دي اوکه نه؟

جواب: ددغة موقوفه مځکي آمدني په هغه کار کي صرف کيدل پکار دي چه دکم کار دپاره واقف دغه مځکه وقف کړي ده نوچه کمه مځکه دمسجد دضرورياتو دپوره کولو

---

(۴) تصدق ناذر لمعنية ولو فقيرا لو ذبحها تصدق بلحمها الخ (الدر المختار علی هامش ردالمحتار کتاب الاضحية ج۵ ص۲۷۹ ط. س. ج۲ ص۳۲) وکذا لو ماتت فعلی الغنی غيرها لا الفقير (درمختار) ای ولو کانت الميتة منذورة بعينها لما فی البدائع ان لمنذورة لو هلکت او ضاعت تسقط التضحية بسبب النذر غير انه ان کان موسر تلزمه الاخری بايجاب الشرع ابتداء لا بالنذر ولو معسر لا شيء عليه اصلا (ردالمحتار کتاب الا ضحية ج۵ ص۲۸۴. ط. س. ج۲ ص۳۲۵). ظفير

(۱) نذر لفقراء مکة جاز الصرف لفقراء غيرها لما تقرر فی کتاب الصوم ان النذر غير المعلق لا يختص بشيء (درمختار) والنذر عن اعتکاف اوحج اوصلاة اوصيام وغيرها غير المعلق ولو معينا لا يختص بزمان ومکان ودرهم فقير فلو نذر التصدق يوم الجمعة بمکة بهذا الدرهم علی فلان فخالف جاز (ردالمحتار کتاب الايمان ج۳ ص۹۲. ط. س. ج۳ ص۷۴۵). ظفير

(۲) فلو نذر التصدق يوم الجمعة بمکة بهذا الدرهم علی فلان فخالف جاز (ردالمحتار کتاب الايمان ج۳ ص۹۲. ط. س. ج۳ ص۷۴۱). ظفير

دپاره ده هغه آمدني دي په دغه کي خرچه کړل سي او چه کمه مځکه په فقراؤ کي دصرف کولو دپاره وقف کړل سي نو دهغه آمدني دي په فقيرانو او مسکينانو باندي مصرف کړل سي طلباء او مسکينان هم ددي مصرف دي ليکن دمدرس تنخواه ددې څخه ورکول درست نه دي.

داوښ نذر ومني او اوښ پيدا نه سي نوڅه به کوي؟ **سوال**: (۳۸) زيد داندذر منلي وو چه اى الله که چيري فلاني مقصود زما حاصل سو نو يو اوښ به قرباني کوم اوس هغه مقصود حاصل سو او اوښ هلته نه پيدا کيږي که چيري زيد داوښ قيمت خير ات کړي نو نذر ادا کيږي اوکه نه؟

جواب: په درمختار کي دي که چيري يو څوك نذر وکړی چه زه به اوښ حلالوم نو هغه که اووه بيزې ذبح کړي نوهم صحيح دي: ولو قال لله على ان اذبح جزوراً والتصدق بلحمه فذبح مکانه سبع شياه جاز الخ (درمختار). ([1])

دنذر دحيوان څخه فائده حاصلول: **سوال**: (۳۹) دنذر سوي حيوان څخه فائده اخيستل درست اوجائز دي اوکه نه او ددغه حيوان بچي دمور په حکم کي دي اوکه نه؟

جواب: دنذر سوي حيوان څخه فائده اخيستل درست نه دي او بچي دمور په حکم کي دي کما فى الشامي لان الام تعينت للاضحية والولد يحدث على صفات الام الشرعية ومن المشائخ من قال هذا فى الاضحية الموجبة بالنذر او ما فى معناه کشراء الفقير والا فلا الخ ج۵ ص۲۰۵ کتاب الاضحية. ([2])

دچرسو نذر صحيح نه دي: **سوال**: (۴۰) زما عمه بيماره وه خلقو وويل چي دسائي سهيلي بابا زيارت ته ولاړ سه او چرس نذر کړه دالله تعالي په فضل اوکرم سره زما عمه جوړه سوه اوس چه دغه مذکوره کم ځاى دي هلته دسيار يعني سير کوونکي په طريقه تلل غواړي په دي باره کي څه حکم دي؟ آيا دچرسو ثواب ورليږي اوکه نقدي اوکه څه؟

جواب: دچرسو نذر صحيح نه دي او چرس څيښل گناه ده داسي نذر صحيح نه وي نو نه چرس ورکول لازم دي نه نقدي نه بل څه او هسي تبرعًا که چيري دغه بزرگانو ته دثواب رسولو په غرض سره يومحتاج ته نقدي يا خوراك وغيره ورکړي نوپه دې کي هيڅ نقصان نسته ليکن چرس به نه ورکوي او عمه که چيري دسير اوسياحت په طريقه دځان سره بوزي او يو کار دشريعت خلاف واقع نه سي نو درست دي. ([3]) فقط

([1]) الدر المختار على هامش ردالمحتار مطلب احکام النذر ج۳ ص۹۲. ط. س. ج۳ ص۷۴۰. ظفير

([2]) ردالمحتار کتاب الاضحية ج۵ ص۲۸۲. ط. س. ج۶ ص۳۲۳. ظفير

([3]) من نذر نذراً مطلقاً او معلقاً بشرط وکان من جنسه واجب الخ وهو عبادة مقصودة (درمختار) وفى البدائع =

ناروغ دي نذر دصحت څخه وروسته پوره کړي او دصحت نه کيدو په صورت کي دي فديه ورکړي: **سوال**: (۴۱) دهندي خاوند په يو آفت کي مبتلا سوي وو دې دشپږو مياشتو دروژي پرله پسي دنيولو نذر ومنی الله تعالي ددي خاوند ته نجات ورکړی هندي دنذر په پوره کولو کي تاخير کوی چه سمخته ناروغه سوه اوس به هغه څه کوي؟

جواب: دصحت انتظار دي وکړي او دصحت څخه وروسته دنذر روژي دي ونيسي اوکه چيري ښه نه وي نو دفديې وصيت دي وکړي چه ددي دمال څخه دي ددي وارثان فديه ادا کړي او فديه ديوې روژي دفطر په شان ده په ژوند کي دې لره درست نه دي چه فديه ورکړي يعني په دي فديې سره به روژه نه ادا کيږي، دجوړيدو څخه وروسته دي روژي ونيسي که نه نو وصيت کول به لازم وي: وقضوا لزومًا ما قدروا بلا فدية ولو ماتوا بعد زوال العذر وجبت الوصية الخ (۱) فقط

دصحت دپاره جائز ده: **سوال**: (۴۲) په عوامو او خواصو کي دستور دي چه دناروغی دصحت په غرض سره سرلي ذبح کوي او په ظاهره کي دده نيت دفديه وي دا جائز دي اوکه نه؟

جواب: جائز دي. (۲)

دغوا دذبح کولو په نذرکي به دعمر لحاظ کيدی سي: **سوال**: (۴۳) يو سړي په خپل ځان باندي نذر وکی که چيري فلاني کار پوره سي نو يوه غوا به دالله تعالي دپاره ذبح کوم او تقسيموم اوس کار پوره سو نذر ادا کول واجب دي ليکن بل طرفته په يو څو علماؤ کي يوه لويه تفرقه واقع سوه يوه ډله دا وايي چه غوا چه دهرڅومره عمر وي ذبح کول يې پکار دي نور علماء دا وايي چه کم شرطونه په قربانی کي دي هغه به ددغه نذر په حيوان کي هم وي کنه نو نذرانه به نه ادا کيږي، په دغه دواړو قولونو کي دچا قول دشريعت په نزد صحيح دي قسم اخيستونکي لفظ دګورو ويلی دی او ګورو هغه غويی ته ويل کيږي

= ومن شروطه ان يكون قربة مقصودة فلان يصح النذر بعيادة المريض وتشييع الجنازة والوضوء والاغتسال ودخول المسجد ومس المصحف والاذان وبناء الرباطات والمساجد وغير دالك (ردالمحتار احكام النذر ج۳ ص۹۱ ط. س. ج۳ ص۷۳۵). ظفير

(۱) نذر صوم شهر معين لزمه متتابعا لكن ان افطر فيه يوما قضاه وحده وان قال متتابعا بلا لزوم استقبال لانه معين (درمختار) لان شرط التتابع فی شهر بعينه لغو لانه تتابع لتتابع الايام الخ واما اذا كان الشهر غير معين فان شاء تابعه وان شاء فرقه (ردالمحتار ج۳ ص۹۷. ط. س. ج۳ ص۷۴۱). ظفير

(۲) ولو قال ان برأت من مرضی هذا ذبحت شاة اوعلیّ شاة ذبحها فبرئ لا يلزمه شيء الخ الا اذا زاد واتصدق بلحمها فيلزمه لان الصدقة من جنسها فرض وهی الزكاة (الدر المختار علی هامش ردالمحتار احكام النذر ج۳ ص۵۵. ط. س. ج۳ ص۷۳۹). ظفير

چه لوی او ځوان وي. بینوا تؤجروا !

جواب: قال فی الدرالمختار ولو قال لله عليَّ ان أذبح جزوراً واتصدق بلحمه فذبح مكانه سبع شياة جاز فی مجموع النوازل ووجهه لايخفى قوله ووجهه لا يخفى هو ان السبع تقوم مقامه فی الضحايا والهدايا (۱) ددې شخه معلومیږي چه دقربانی دشرطونو لحاظ په ديكي ضروري نه دي. فقط

صرف دنذر په نيت سره نذر نه واجبيږي: **سوال**: (۴۴) زيد نيت كوي كه چيري زما فلاني دكان يا سراى په كرايه باندي واخستل سو نو ددي ديوي مياشتي كرايه دالله تعالي دپاره وركوم اوس دغه سراى يا دوكان په كرايه باندي ونيول سو زيد ددي ديوي مياشتي كرايه دوعدي مطابق دخير په مصرف كي صرف كول غواړي، داسي نذر دالله تعالي دپاره په خوراك پخولو دطلباؤ او مسكينانو وغيره باندي خوړلي سي اوكه نه؟ او ددې شخه يې خپله هم خوړلي سي اوكه نه؟ او په خپلو عزيزانو او خپلوانو باندي يې خوړلي سي اوكه نه؟ آيا ده ته داسي اختيار سته اوكه نه چه دغه موعود رقم چه په كم كار خير كي وغواړي ولګولي سي؟

جواب: زيد كه چيري صرف داسي نيت كړي دي او په ژبه يې هيڅ نذر نه دي كړي په دي حالت كي پرزيد باندي هيڅ نه لازميږي كه چيري تبرعًا څه دصدقي په طور په محتاجو وغيره باندي وخوري نو ښه دي ددې شخه يې خپله هم خوړي سي او په خپلو عزيزانو اواقاربو باندي يې هم خوړي سي او چه كم رقم غواړي په مسجد كي ولګوي نوهم دي ولګوي كار دثواب دي كه چيري په ژبه سره يې نذر اومننه منلى وي په چه صورت مذكوره زما پر ذمه دي چه دالله تعالي دپاره به ديوې مياشتي كرايه وركوم نو بيا دغه ټول رقم مسكينانو او فقيرانو ته وركول ضروري دي كه چيري ددغه رقم خوراك پوخ كړي او په بل باندي يې وخوري نو په ټولو محتاجو باندي دي وخوري اونه دي په مسجد كي لګوي غرض دا چي دنذر دا حكم دي چه صدقه كول يې په مسكينانو باندي واجب دي (۲) اوكه چيري نذر نه وي نو بيا اختياردي لكه څنګه چي مخكي وليكل سوه.

---

(۱) ردالمحتار كتاب الايمان ج۳ ص۹۲. ط. س. ج۳ ص۷۴۰. من نذر نذراً مطلقا او معلقا بشرط وكان من جنسه واجب الخ ووجد الشرط المعلق به لزمه الناذر الخ كصوم وصلاة وصدقة (الدر المختار) اى لزمه الوفاء (ردالمحتار مطلب فی احكام النذر ج۳ ص۹۱) په ژبه ويل شرط دي صرف په زړه كي په سوچ كولو سره هيڅ هم نه كيږي. ظفير

(۲) دنذر مصرف همغه دی كم چه دزكوة دی: مصرف الزكوة والعشر وهو ايضا مصرف لصدقة الفطر والكفارة والنذر وغير ذلك من الصدقات الواجبة (ردالمحتار باب المصرف ج۲ ص۷۹. ط. س. ج۲ ص۳۳۹). ظفير

نذر يې ومنی چه داسي وسي نو قرآن به ختموم: **سوال**: (۴۵) يو سړي نذر وکی چه هلك ته آرام راسي نو په لسو حافظانو باندي به يو قرآن شريف ختموم او په زړه کي يې دا هم دي چه په دوی باندي به خوراك هم کوم په دي صورت کي دنذر ادا کول واجب دي اوکه نه؟

جواب: دا نذر لازم نه سو. (۱) فقط

دحسين ﷺ په نوم دنذر حکم: **سوال**: (۴۶) يو سړي دالله تعالي دپاره په داسي طريقه نذر وکی که چيري زما بچي او زوی وسو نو زه به دالله تعالي دپاره نذر کوم او ثواب به يې دحسين ﷺ روح ته رسوم اوس زما زوی وسو او ما هرکال يوه هنسلي (چه يو قسم اميل دي) جوړ کړي او اينبودلي دي اوس هغه پوره سوي دي زه غواړم چه دالله تعالي دپاره ثواب دامام حسين ﷺ روح ته ورسوم دا صورت جائز دي او که نه؟

جواب: داسي نذر چه په هغه کي دمړو تقرب وي په اتفاق سره باطل او حرام دي: للاجماع علي حرمة النذر للمخلوق ولا ينعقد الخ (۲)نو دامام حسين ﷺ دايصال ثواب نذر کول شرعًا صحيح نه سوه او آئنده داسي نذر نه دي کول پکار چه کم نذر دالله تعالي دپاره وکړل سي نو دا نذر چه سائل کړي دي په ديکي دتقرب دغير الله شائبه معلوميږي ددي څخه توبه کول په کار دي او آينده داسي نذر نه دي کول پکار نذر خاص دالله تعالي دپاره پکار دي که چيري خاص دالله ﷻ دپاره نذر ومنل سي نو لازميږي او مصرف ددي فقراء او مساکين دي دغه طريقه چه تا دنذر خيال پرکړي دي دشرع څخه خلاف ده او هنسلي وغيره جوړول او بچي ته يې وراغوسال حرام دي دا دجاهلانو رسمونه دي الله تعالي دي موږ ځيني وژغوري.

دقرباني په نذرکي قرباني ضروري ده اوکه قيمت يې هم ورکولي سي؟ **سوال**: (۴۷) زما خور په جهاز کي سخته بيماره سوه نذر يې وکی که چيري په خيريت سره دقيام ځای ته ورسيدم نو قرباني به کوم الحمد لله چه په خيريت سره ورسيده آيا کمه مننه چه يې کړي ده هغه دقرباني کولو په صورت کي پوره کيدي سي اوکه همغه قيمت به په يوه يتيم خانه

---

(۱) من نذر نذرا مطلقا او معلقا بشرط المعلق به لزم الناذر الخ کصوم وصلاة وصدقة الخ ولم يلزم الناذر ما ليس من جنسه فرض کعيادة المريض ودخول مسجد الخ (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار مطلب فی احکام النذر ج۳ ص۹۱. ط. س. ج۳ ص۷۳۵). ظفير

(۲) ولم يلزم الناذر ما ليس من جنسه فرض کعيادة مريض وتشييع جنازة ودخول مسجد الخ لانه ليس من جنسها فرض مقصود وهذا هوالضابط وفی البحر شرائطه خمس فزاد ان لايکون معصية لذاته (درمختار) وأما کون المنذور معصية يمنع انعقاد النذر فيجب ان يکون معناه اذا کان حرام بعينه اوليس فيه جهة قربة (ردالمحتار مطلب احکام النذر ج۳ ص ۹۲. ط. س. ج۳ ص۷۳۶). ظفير

وغیره کي ورکول کیږي؟ بینوا تؤجروا

جواب: هغه منه چه دقربانی یې کړي ده نو قرباني کول په کار دي په قرباني سره به دغه نذر پوره سي. ([1])

په نذر معین کي دعمر قید: **سوال**: (۴۸) په نذر معین کي شرط یو کلنی دي اوکه ددي څخه منذور پسه وي؟

جواب: مشروط دي. ([2])

دمتایي په نذر کي هر قسم متایي تقسیمول درست دي: **سوال**: (۴۹) دمتائي نذر ئي ومنی دهغه قیمت یې چاته ورکړی او وې ویل چه ته فلانی متایي منذوره واخله او تقسیم یې کړه اخیستونکي ددغه منذوره متایي پرځاي نوره متایي تقسیم کړه نو جائز ده اوکه نه؟

جواب: جائز دي. ([3])

په نذر کي ددې قیمت غیر مستحق ته اخیستل جائز نه دي: **سوال**: (۵۰) پتاسی یې ومنلی او دهغي قیمت یې چا ته ورکړی او وی ویل چه ته په دغه قیمت سره پتاسي واخله او غریبانو ته یې ورکړه اوس دقیمت اخیستونکي ته جائز دي چه قیمت په خپل تصرف کي راولي که چیري نه وي نو آیا پتاسي ورکول واجب دي که چیري نوره متایي دپتاسو په ځای تقسیم کړي نو نذر په پوره سي اوکه نه؟

جواب: خپله یې خوړل درست نه دي او دمتائي بدلول جائز دي کما مر ([4]).

دنذر متائي دغیر مستحق دپاره درسته نه ده: **سوال**: (۵۱) صاحب نصاب ته دنذر پتاسې وغیره چه دغیر مفروضاتو څخه دي خوړل جائز دي او که نه؟

جواب: دنذر مصارف هم هغه دي کم چه دزکوة دي نو دمالدارو دپاره درست نه دي. کما فی الشامی باب المصرف ای بیان مصرف الزکوة وهو مصرف ایضا لصدقة الفطر والکفاره والنذر الخ. ([5])

دنذر روپی محتاج ته ورکول پکار دي دامام حسین ﷺ په مجلس بانـدي به یې نه خرڅوي:

([1]) قال فی البدائع ولو نذر ان یضحی شاة وذلك فی ایام النحر وهو موسر فعلیه ان یضحی بشاتین عندنا شاة بالنذر وشاة بایجاب الشرع ابتداء (ردالمحتار کتاب الاضحیة ج۵ ص ۷۹. ط. س. ج۳ ص ۳۲۰). ظفیر

([2]) ولو قال لله علی ان اذبح جزورا واتصدق بلحمه بذبح مکانه سبع شیاة جاز ووجه لا یخفی (درمختار) وهو ان السبع تقومه مقامه فی الضحایا والهدایا (ردالمحتار مطلب فی احکام النذر ج۴ ص۹۲. ط. س. ج۳ ص۷۴۵).

([3]) وکذا یظهر منه انه لا یتعین فیه المکان والدرهم والفقیر لان التعلیق انما اثر فی انعقاد السببیة فقط (ردالمحتار مطلب احکام النذر ج۳ ص۹۲. ط. س. ج۳ ص۷۴۱). ظفیر

([4]) مصرف الزکوة والعشر الخ وهو مصرف ایضا لصدقة المصرف ج۲ ص۷۹. ط. س. ج۲ ص۳۳۹). ظفیر

([5]) وګورئ ردالمحتار باب الإصرف ج ۲ ص ۷۹. ط- س. ج ۲ ص ۳۳۹. ظفیر

سوال: (**۵۲**) يو سړي نذر وکی که چيري زما فلاني کار وسو نو زه به ميلاد شريف يا مجلس دامام حسين ﷺ کوم، په کار کيدو باندي دنذر روپی دمناسب مصرف لپاره په کم شغل کي لګول په کار دي؟

جواب: مسلمانانو محتاجو ته يې ورکول په کار دي په مذکوره مجالسو کي دي نه صرف کوي. (۱) فقط

دځادر غوړولو نذر درست نه دی: **سوال**: (**۵۳**) يو سړي نذر ومنی چه په بغداد کي دپيران پير شيخ عبد القادر جيلاني په مزار باندي به يو غلاف غوړوم نو پرده باندي ددغه نذر ادا کول واجب دي اوکه نه؟ او که چيري دغه سړي ددغه غلاف په اندازه روپی دپيران پير روح ته دثواب رسولو په غرض سره په يو مصرف خير کي خرچي کړي دا درسته ده اوکه نه؟

جواب: دا نذر لازم نه دي او ددي پوره کول هم درست نه دي که چيري دغه سړي دغه قدر روپئ په يو مصرف خير کي خرچي کړي دهغه ثواب پيران پير ته ورسوي نو دا جائز دي په حديث شريف کي دي چه لا وفاء لنذر فی معصية ولا فيما لا يملك العبد رواه مسلم وفی رواية لا نذر فی معصية الله. (۲) فقط

په نذرکي چه کله شرط پوره نه سي نو څه به کوي؟ **سوال**: (**۵۴**) ديو سړي غويی مرګ ته نژدي وو ده دا نذر ومنی که چيري دا غويی جوړ سو نو دپلار دانتقال څخه وروسته به دا ذبح کوم او په خلقو به يې خورم نوهغه جوړ سو او تراوسه پوري پلار ژوندي دي او غويی في الحال مړ کيدونکي دي په داسي حالت کي دنذر دادا کولو څه صورت دي او نذر لازم دي اوکه نه؟

جواب: په دي صورت کي دشرط نه پوره کيدو په وجه نذر لازم نه دي داصول فقه داحنافو دا قاعده ده چه دکم شي تعليق په شرط سره وکړل سي ګواکي په هغه تکلم دشرط څخه وروسته کيږي. (۳)

دمسجد دجوړلو دنذر حکم: **سوال**: (**۵۵**) ديوي زنانه هلك بيمار سو دي دا نذر وکی که چيري زما هلك جوړ سو نو يو مسجد به جوړوم دمسجد طول اوعرض څومره په کار دي؟

---

(۱) مصرف الزکوة والعشر الخ وهو مصرف ايضا لصدقة الفطر والکفارة والنذر الخ (ردالمحتار باب المصرف ج۲ ص ۷۹. ط. س. ج۲ ص۳۳۹). ظفير

(۲) مشکوة کتاب الايمان والنذور ص۲۹۷. ظفير

(۳) من نذر نذرا مطلقا او معلق بشرط الخ ووجد الشرط المعلق به لزمه الناذر لحديث من نذر وسمی فعليه الوفاء بما سمی (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار مطلب فی احکام النذر ج۳ ص۹۱ ط. س. ج۳ ص۷۳۵).

که چیري مسجد جوړ نه کړي بلکه په دغه روپو دزوړ مسجد مرمت وکړي نو جائز دي اوکه نه؟ نذر به ادا سي اوکه نه؟ او دا نذر يې هم کړي وو چه په مسجد کي به دسپينو زرو څراغ بلوم ددي متعلق څه حکم دي؟ او ديوه بزرگ مزار قبر ته تللي او دا يې ويلي وه چه کله زما هلك جوړ سو نو شيريني غوړوم نو په قبر باندي شيريني غوړول او دغه شيريني خوړل څنګه دي؟

جواب: دمسجد جوړولو نذر صحيح نه سو نوپر دي باندي مسجد جوړول ضروري نه دي او دځه طول اوعرض قيد ملحوظ نه دي که زړه يې چيري غواړي نو مسجد دي جوړ کړي که هر څومره طول او عرض لري اوکه يې جوړ نه کړي نو دا هم درست دي، اوکه چيري دزوړ مسجد سميدل وکړي نو دا هم درست دي (۱) مګر لازم داهم نه دي او دسپينو زرو څراغ اېښودل په مسجد کي او دهغه استعمالول هم حرام دي دا نذر هم لازم نه سو او پرقبر باندي دشيرينيو غوړولو نذر هم لازم نه سو او دا درست هم نه دي (۲) اوکه چيري يې دا غرض وي چه دمزار فقراؤ ته دي ورکړل سي نو نذر صحيح دي او لازم دي ليکن دا ضروري نه ده چه دغه فقيرانو ته يې ورکړي بلکه نورو محتاجو ته يې هم ورکولي سي دغه محتاجو ته ددي خوراك خوړل درست دي. (۳)

<u>**دنذر متعدد صورتونه**</u>: **سوال**: (۵۲) داسي نذر کول که چيري زما فلاني کار پوره سو نو فلاني پير عالم ته به دا شي ورکوم دا نذر صحيح او منعقد کيږي اوکه نه؟

۲: که چيري دا نذر وکړي چه ای الله که چيري زما فلاني کار پوره سو نو فلاني بزرګ ته به دالله تعالي دپاره په دي قدر فلاني شي ورکوم دا نذر صحيح دي اوکه نه دمنذور دصحت په تقدير سره دغه بزرګ ته يې ورکول ضروري دي يا نورو ته هم ورکولي شي؟

۳: که چيري دا نذر وکړي چه ای الله که چيري زما فلاني کار پوره سو نو فلاني بزرګ يا عالم ته به فلاني شي ورکوم دا نذر صحيح دي اوکه نه؟

جواب: په اول او دريم صورت کي نذر منعقد نه سو او په دويم صورت کي نذر وسو ليکن تخصيص ددغه بزرګ هيڅ نسته چاته چه وغواړي په دغه مقدار صدقه دي وکړي

---

(۱) ومن شروطه (ای النذر) ان يكون قربة مقصودة فلا يصح النذر بعيادة المريض وتشييع الجنازة الخ وبناء الرباطات والمساجد وغير ذلك وان كانت قربا الا انها غير مقصود (ردالمحتار مطلب فى احكام النذر ج۳ ص۹۱. ط. س. ج۳ ص ۷۳۵). ظفير

(۲) قال رسول الله ﷺ لا وفاء لنذر فى معصية ولا فيما لا يملك العبد وفى رواية لا نذر فى معصية الله رواه مسلم (مشكوة باب فى النذور ج۲ ص۲۹۷). ظفير

(۳) نذر لفقراء مكة جاز الصرف لفقراء غيرها (الدر المختار على هامشر ردالمحتار كتاب الايمان ج۳ ص ۹۲. ط. س. ج ۳ ص۷۴۰). ظفير

فی الدرالمختار نذر لفقراء مکة جاز الصرف لفقراء غیرها الخ ([1]). فقط

پہ دومره روپو سره دالله دنیاز دوصیت څه حکم دي؟ **سوال:** (۵۷) که چیري یو سړي وصیت وکړي چه دغه اتیا روپئ دالله په نوم نذر کړئ که اوس دغه روپئ په مسجد کي ولګول سي نو څه حرج خو نسته اوکه چیري چا ددي دپاره روپئ جمع کړي چه حج ته به ځم او نیت یې تام دي لیکن دجنګ او جګړي په وجه نه سي تلي نوکه چیري دمسجد په تعمیر کي روپئ خرچي کړي نوجائز دي اوکه نه او دده دذمه څخه حج ساقطیږي اوکه نه؟

جواب: په اول صورت کي په دغه روپو سره مسجد تعمیر کولي سي ([2]) او فرض حج بغیر دکیدو څخه نه ساقطیږي البته په صورت دعدم امن دلاري دحج دپاره تګ ضروري نه سو چه کله امن سي نو تګ ضروري دي او فرضیت باقي دي چه کم وخت موقع دتللو دپاره پیداسي نو ولاړ دي سي. فقط

دنذر مصرف څه شی دی؟ **سوال:** (۵۸) دمولانا عبد الحي په فتاوي کي دي چه دنذر دخوړو مصرف محتاج او فقراء دي دامیر دپاره ددي خوراك جائز نه دي نو دناروا معني څه ده؟

جواب: دمولانا عبد الحي فتوي صحیح ده دامیر دپاره ددغه مټایي خوړل روا (جائز) نه دي مسکینانو ته یې ورکول په کار دي او دیو مسجد دلمونځ کوونکو تخصیص شرعًا باطل دي دیو مسجد یا دغیر مسجد فقیرانو ته چه وغواړي وردي کړي او دمټایي پرځاي دي نقد ورکړي یا خوراك دي په وخوري او دناروا معني دحرام ده. ([3])

په ژبې سره ویل دنذر دپاره ضروري دي: **سوال:** (۵۹) فدوي نومي دجمعی په شپه یو دعا وغوښته او ددي سره یې دا هم اراده وکړه چه دکار په پوره کیدو باندي به یوه روژه نیسم هغه کار پوره سو او نذري روژه دورځي دنهو بجو سره نژدي رایاده سوه دغه وخت یې دروژي نیت وکی نو دورځي په نیت کولو سره روژه کیږي او که نه؟

([1]) الدرالمختار علی هامش ردالمحتار کتاب الایمان مطلب فی احکام النذر ج۳ ص۹۲. ط. س. ج۳ ص۷۴۰ نذر ان برئت من مرضی هذا ذبحت شاة فبرئ یلزمه شيئ لان الذبح لیس من جنسه فرض الخ فلا یصح الا اذا زاد واتصدق بلحمها لیلزمه لان الصدقة من جنسها فرض (ایضا ج۳ ص۹۵. ط. س. ج۳ ص۷۳۹). ظفیر

([2]) من نذر نذراً مطلقا الخ وکان من جنسه واجب ای فرض الخ وجد الشرط لزم النار بحدیث من نذر وسمی فعلیه الوفاء بما سمی (ایضا ج۳ ص ۹۱ ط. س. ج۳ ص۷۳۵) دنذر مصرف هغه دي- کم چه دزکوة دي حالانکه په جومات کي لګول درست نه دي: مصرف الزکاة په دي کي صراحت سوي دي: وهو البناء مصرف لصدقة الفطر والکفارة والنذر الخ (ردالمحتار باب المصرف ج۱ ص۷۹ ط. س. ج۲ ص۳۳۱). ظفیر

([3]) دا نذر نه دي بلکه خپله ذاتي روپي دي هغه دکار خیر دجماعت په جوړولو باندي لګولي سي ثواب به یې وي: من بنی مسجدا الله تعالی بنی الله له بیتا فی الجنة او کما قال ﷺ . ظفیر

جواب: كه چيري صزف په زړه كي يې دا اراده وكړه چه دكار په پوره كيدو باندي به يوه روژه نيسم نو دانذر نه دي نذر هغه وخت وي چه په ژبي سره ووايي چه كه چيري فلاني كار وسو نو دالله تعالي دپاره به يوه روژه نيسم يا زما پر ذمه نذر دي چه يوه روژه به نيسم بهر حال كه چيري دنذر الفاظ دی په ژبي سره ووايي نو دا نذر مطلق دي په دي كي دشپي څخه دنيت كولو ضرورت سته دورځي په نيت كولو سره دنذر روژه نه ادا كيږي كه چيري په ژبي سره يې هيڅ ونه ويل صرف نيت په زړه كي او دروژي اراده يې كړي ده نو هغه نفلي روژه ده ددي نيت په زړه كي هم دغرمي څخه مخكي مخكي كيدي سي. (۱)

دشرعي نذر تحقيق: **سوال**: (۲۰) دزيد هلك بيمار وو ديوې بيزى دبچي نذر يې وكى چه دجوړيدو څخه وروسته به يې صدقه كوم ليكن دصحت څخه وروسته دسستي دوجي هغه بچې پاته سوه تر دي پوري چه هغه لويه سوه او حامله هم سوه يو مولوي صاحب وويل چه يو بچي ځيني صدقه كړه، شرعًا څه حكم دي؟

جواب: دفقهي په كتابونو كي دا تحقيق دي چه تر څو پوري دا ونه وايي چه په ذبح كولو سره به يې دالله تعالي دپاره صدقه كوم تردغه وخته پوري نذر شرعي نه كيږي نوچه كله نذر ونه سو نو صدقه كول ددغه بچي او دده داولاد ضروري نه دي (۲)

په مسجد كي درقم دخرچ كولو نذر: **سوال**: (۲۱) يو مخنث بيمار سو او دمبلغ اووه سوو روپو په يو مسجد كي دلګولو نذر يې ومنى اوس دالله ﷻ په حكم هغه جوړ سو او دنذر رقم په مسجد كي لګول غواړي نوجائز دي اوكه نه؟ دمسلمانانو دپاره دمسجد سره نژدي په دي سره څاه جوړول او په دي سره وضو وغيره جائز دي اوكه نه؟

جواب: دغه روپۍ دمسجد په ضرورياتو كي او په مسجد كي خرڅ كول درست دي اګر چه نذر يې په مسجد كي دلګولو وو نو په مسجد كي دهغه لګول په كار دي او جائز هم دي چه دضرورت موافق دمسجد سره نژدي څاه جوړ كړل سي او ددغه څاه اوبه په مسلمانانو باندي څكل او پرهغه لګول وغيره كول درست دي. (۳)

---

(۱) مصرف الزكوة الخ وهو مصرف ايضا لصدقة الفطر والكفارة والنذر (ردالمحتار باب المصرف ج۳ ص۷۹. ط. س. ج۳ ص۳۳۹). ظفير

(۲) من نذر نذراً مطلقا وكان من جنسه واجب اى فرض وهو عبادة وافاد انه يلزمه ولو لم يقصده (ردالمحتار كتاب الايمان ج۳ ص۹۱. ط. س. ج۳ ص۷۳۵) فيصح اداء صوم رمضان والنذر المعين والنفل بنية من الليل الى الصخوة الكبرى لا بعدها الخ والشرط للباقى من الصيام قران النية للفجر ولو حكما وهو تبييت النية للضرور وتعيينها لعدم تعين الوقت (درمختار) قوله والشرط الباقى من الصيام اى من انواعه الى الباقى منها بعد الثلاثة المتقدمة فى المتن وهو قضاء رمضان والنذر المطلق وقضاء النذر المعين والنفل بعد افساده والكفارات اسبع (ردالمحتار كتاب الصوم ج۲ ص۱۱۹ ط. س. ج۲ ص۳۷۷). ظفير =

دنذر صحيح طريقه: **سوال**: (۲۲) كه چيري يو سړي سرلي وساتي او ووايي چه زه به دلوى پيرصاحب نياز وركوم يعني دپير صاحب په نوم به خوراك په خلقو خورم دا خوراك حرام دي اوكه حلال؟

جواب: كه چيري غرض ددي دا وي چه دغه سرلي به دالله په نوم باندي ذبح كوم او صدقه كوم او ددي ثواب به وروح پُر فتوح دپير صاحب ته رسوم نو هغه حلال دي او دذبح كولو څخه وروسته دالله په نوم باندي خوړل ددي په فقيرانو درست دي اوكه چيري دغه نيت يې نه وي بلكه دپير په نوم دتقرب په طور يې ذبح كوي نو بيا ناجائز دي. ([1])

دحيواناتو پريښودو نذر صحيح نه دي: **سوال**: (۲۳) يو سړي بيمار سو او دده پلار دبيماري په حالت كي نذر ومنى كه چيري زما هلك ته الله تعالي پوره صحت وركړى نو دخپل هلك دطرف څخه به يو حيوان دالله تعالي په نوم باندي پريږدم دصحت څخه وروسته دده پلار يو حيوان محلي والاوو ته حواله كړى او مالك يې جوړ كړل ورپړي يې ښودى دغه حيوان دهر كلي په كښت كي څريږي دغه رنګه تردرو څلورو كالو پوري يې پرورش وكى اوس دغه حيوان ټول كلي والا ذبح كولي اوخوړلي سي اوكه نه؟ او نذر ادا سو اوكه نه او ددغه حيوان دڅرمنى قيمت په مسجد كي لګول درست دي اوكه نه؟

جواب: دا نذر صحيح نه سو او دغه حيوان دپريښودونكي په ملك كي دي، دى يې په خپله يا چاته چه اجازت وركړي هغه يې خوړلي سي. او دڅرمني قيمت چه هرچيري غواړي خرڅ دي كړي. ([2])

دنذر دمودي په ختميدو باندي كار وسو نو دهغه پوره كول لازم نه دي: **سوال**: (۲۴) يو سړي نذر ومنى كه چيري زما قرض په دومره ورځو كي وصول سو نو زه به څه دالله تعالي په

([3]) ولو قال ان برئت عن مرضى هذا ذبحت شاة او على شاة اذبحها فبرى لايلزمه شيء الخ الا اذا زاد واتصدق بلحمها فيلزمه لان الصدقة من جنسها فرض (الدرالمختار على هامش ردالمحتار مطلب فى احكام النذر ج۳ ص۹۵. ط. س. ج۳ ص۷۳۹). ظفير

([1]) وفي البدائع ومن شروطه ان يكون قربة مقصودة فلايصح النذر بعيادة المريض وتشييع الجنازة الخ وبناء الرباطات والمساجد وغير ذلك وان قربا الا انها غير مقصودة اه (ردالمحتار مطلب في احكام النذر ج۳ ص۹۱) معلومه سوه چه دا نذر ونه سو ځكه چه په دي روپو باندي جماعت يا څاهان جوړول جائز كيږي. (ط. س. ج۳ ص ۷۳۵). ظفير

([2]) ان النذر الذى يقع للاموات من اكثر العوام وما يوخذ من الدراهم والشمع والزيت ونحوها الى ضرائح الاولياء الكرام تقربا اليهم فهو بالاجماع باطل حرام ما لم يقصد صرفها الفقراء الانام (ردالمحتار) قوله باطل وحرام لوجوه منها انه نذر لمخلوق والنذر للمخلوق لايجوز لانه عبادة والعبادة لا تكون المخلوق ومنها ان المنذور له ميت والميت لا يملك ومنها انه ان ظن ان الميت يتصرف فى الامور دون الله تعالى فاعتقاده ذلك كفر الخ (ردالمحتار كتاب الصوم ج۲ ص۱۷۵ ط. س. ج۲ ص۷۳۹). ظفير

نوم باندي ورکوم دده قرض په څه وخت کي لږ لږ دميعاد څخه وروسته وصول سو نو په دي صورت کي دنذر پوره کول لازم دي او که نه؟

جواب: په دي صورت کي چي دمعين وخت څخه وروسته روپۍ وصول سوي نو ددغه نذر پوره کول دده په ذمه لازم نه دي او څه ورکول ضروري نه دي. (۱)

که چيري دي خلاص سو نو ذبح کوم به يې اوپه لمونځ کوونکو باندي به يې خورم: **سوال**:

(**۲۵**) ديو سړي دغوا بچي سپي وچيچی دغه سړي دا وويل که دغه بچي وژغورل سو نو دا به زه ذبح کوم اوپه خلقو به يې خورم دمصلي څخه دجمعي مصلي مراده ده يعني په جُمعه کي چي څومره قدر لمونځ گذار حاضر سوي وي په هغوي به يې خورم په دې کي اکثره مالدار خلك دي نو دا نذر صحيح دي اوکه څه حکم دي؟

جواب: دا نذر وسو ددي حکم دا دي چه دده غوښه به په فقيرانو باندي خوړل کيږي نه په مالدارو باندي او دده دوينا هيڅ اعتبار نسته ځکه چه په نذر کي تعين نه صحيح کيږي كذا في الدرالمختار في بيان احكام النذر (۲). فقط

که الله تعالي داسي وکړي نو په مسجد کي به مټايي ورکوم دا نذر دي: **سوال**: (**۲۶**) زيد دا وايي که چيري الله تعالي موږ ښه کړي نو په مسجد کي به يو سير پتاسې يا بوره ورکوم دا نذر منعقد کيږي اوکه نه؟

جواب: که چيري غرض دزيد صدقه کول وي پراهل مسجد باندي نو نذر صحيح دي او تعين دپتاسو او دبوری لازم نه سو بل يو شي دطعام دقسم څخه يا نقد هم صدقه کولي سي اوکه چيري بالفرض دغه نذر لازم سوي نه وي نو بيا هم ادا کول يې احوط دي. (۳)

دمځکي دپوره پلاټ دترلاسه کيدو نذر يې ومنی ليکن ترلاسه سو دريمه حصه څه حکم دي؟

سوال: (**۲۷**) يو سړي نذر ومنی که چيري ماته فلانی مځکه مربع ورسيده نو سل روپۍ به په مدرسه کي ورکوم ليکن ده ته دريمه حصه حاصله سوه نو ددريمی حصي دنذر اداکول ضروري دي اوکه نه؟

جواب: په دې صورت کي دنذر پوره کول لازم نه دي ځکـه چه شرط نه دي پوره سوي او شرط پوره مربع حاصيدل وو هغه حاصل نه سوه لهذا نه دکل نذر ادا کول واجـب سول او

---

(۱) من نذر نذرا مطلقا اومعلقا بشرط وكان من جنسه واجب اي وهو عبادة مقصودة ووجد الشرط المعلق به لزمه النذر (الدر المختار على هامش ردالمحتار باب في احكام النذر ج۳ ص۹۱. ط. س. ج۳ ص۷۳۵) حيوان پرې ښودل نه واجب دی اونه عبادت مقصوده دی بلکه دا نذر نه سو. ظفير

(۲) ووجد الشرط المعلق به لزم الناذر (ايضا) دلته شرط نه دی اچول سوی. ط. س. ج۳ ص ۷۳۵. ظفير

(۳) نذر لفقراء مكة جاز الصرف لفقراء غيرها (درمختار) فلو نذر التصدق يوم الجمعة بمكة بهذا الدرهم على فلان فخالف جاز (ردالمحتار مطلب فی احكام النذر ج۳ ص۹۲. ط. س. ج۳ ص۷۴۰). ظفير

نه دبعضي. (۱) فقط

دنذر دواجب کیدو شرط: **سوال**: (۲۸) یو سړي حنفي اهل سنت والجماعت نذر ومنی چه دچارپاړي جنډه به دتبلیغ او اشاعت اسلام په غرض پورته کوم اوپه فقراؤ اومساکینو باندي به خوراك تقسیموم او دي دهیضې په مرض کي مبتلا وو دالله رب العزت په فضل سره جوړ سو اوس دنذر پوره کول واجب دي اوکه نه؟

جواب: دنذر دواجب الایفاء کیدو دپاره شرط دا دي چه دهغه دجنس څخه یو واجب مقصود بالذات کیدل پکار دي لکه چه دروژی یا دلمانځه نذر وي نو پوره کول یې واجب دي کنه وي نو نه دي واجب کما مرّ في التنویر ومن نذر نذراً مطلقا او معلقا بشرط وکان من جنسه واجب وهو عبادة مقصودة ووجد الشرط لزمه الناذر کصوم ولم یلزم ما لیس من جنسه فرض کعیادة مریض وتشییع جنازة ودخول مسجد اهـ ملخصا، او چونکه په صورت مسئوله کي دیو داسي شي نذر نه دي منل سوي چه دهغه دجنس څخه څه واجب وي لهذا ایفاء واجب نه ده، دچارپاړي بیرغ یا تعزیه ټول بدعي کارونه دي چه ددي متعلق ارشاد نبوي دي: من احدث في أمرنا هذا ما لیس منه فهو رد (مشکوة) په داقسم کارونو سره تبلیغ داسلام کول اول خو غلط دي ددي وجي چه دابه تبلیغ دبدعت سي بالفرض که چیري داسي وسي هم نو هم اسلام دداسي شیانو څخه بي نیازه دي: الحق یعلو ولا یعلي، البته پرمسلمانانو باندي دا لازم دي چه دتعزیه تردید اوتقبیح وکړي دا احداث في الدین او بدعت ثابت کړي چه بدعت ختم سي داسي نه چه عوام دیوه بدعت څخه دبل بدعت په ذریعه منع کړي. والله الموفق. فقط

مسجد ته چه کم دخوراک شي راسي دهغه حکم: **سوال**: (۲۹) دبنګال په مساجدوکي دخوړو او شیرینو پتاسو دجمعې په ورځ معمول دي کله یې نذر هم کوي او راوړي یې او کله بغیر دنذر څخه، نو آیا غني ته ددي خوړل درست دي اوکه نه او په نورو وختونو کي هم دغه شیان دمسجد پرمنبر باندي یاپه طاخچه کي کښیږدي کله نقدي هم ورکوي نو دغه شیان دلمونځ ګذارو په رضامندی سره نیمه حصه تقسیم کړي باقي قیمت په مسجد یا مدرسه یا نورو دیني ضروریاتو کي لګول درست دي اوکه نه؟

جواب: دنذر خوراك دغنیانو دپاره درست نه دي (۱) اوکه چیري نذر نه وي نو درست دي اوپه مسجد کي دلګولو اجازت ورکړي نو په مسجد کي ددغو قیمتو لګول درست دي.

---

(۱) من نذر نذراً مطلقا اومعلقا بشرط وکان من جنسه فرض وهو عبادة مقصودة ووجد الشرط المعلق به لزم الناذر (درمختار) والمراد الشرط الذی یرید کونه (ردالمحتار مطلب فی احکام النذر ج۳ ص۹۱. ط. س. ج۳ ص۷۳۵). ظفیر

دچړک، کیلې وغیره نذر دفقیر انو دپاره صحیح دي: **سوال**: (۷۰) دچړک، کیلې، آم، ناریل، ترکاری، پتاسو، شیرینو وغیره نذر صحیح او لازم الاداء دي او که نه که چیري وي نو دا شبهه پیدا کیږي چه دنذر دپاره یو شرط دا دي چه هغه دداسي شیانو څخه وي چي دهغه هم جنس څه فرض یا واجب وي او مذکوره شیان ددغه شیانو څخه دي اوکه نه؟

جواب: داشیاء مذکوره ۇ دتصدق نذر صحیح دي ([2]) ځکه چه دتصدق جنس فرض دي په شان دزکوة ([3]) دنذر شي په مالداروباندي خوړل درست نه دي ددي مصرف فقراء دي. ([4])

نذر دپیر په نوم جائز نه دي: **سوال**: (۷۱) یو سړي دا نذر یا مننه مني چه ماته په خپل تجارت کي څومره نفع وسوه نو په هغه کي به دومره اندازه فیصدي دغوث اعظم په نوم باندي باسم او فلاني پیر صاحب ته به یې ورکوم یا به یې خپله په غریبانو باندي تقسیموم دا جائز دي اوکه نه؟

جواب: دا نذر شرعًا صحیح نه سو ځکه چه نذر لغیر الله جائز نه دي، البته که چیري دالله تعالي په نوم نذر وکړل سي او ثواب دهغه دعبد القادر جیلاني روح پُرِ فتوح ته ورسول سي نو دا درست دي ([5]) نواوس چه کله دا نذر صحیح نه سو نو اوس ده ته اختیار دي چه کله ده ته په تجارت کي نفع وسي نو څومره قدر چه غواړي دالله تعالي دپاره دي غریبانو ته ورکړي او صدقه دي په فقیرانو باندي وکړي او ثواب ددي دي پیران پیر ته ورسوي او همیشه دایصالِ ثواب دا طریقه کول په کار دي. فقط

دپیر سرلي ورکول یانذر منل جائزنه دي: **سوال**: (۷۲) دپیر سرلی ورکول جائزدي یعني نذرکول آیا ددي غوښه حلاله ده؟

([1]) وګوریئ الدرالمختار علی هامش ردالمحتار مطلب فی احکام النذر ج۳ ص۹۱. ط. س. ج۳ ص۷۳۵. ظفیر

([2]) مصرف الزکوة الخ وهو ایضا مصرف صدقة الفطر والکفارة والنذر (ردالمحتار باب المصرف ج۲ ص۷۹. ط. س. ج۲ ص۳۳۹). ظفیر

([3]) او داشیان دفقراؤ مساکینو وغیره دپاره دی داغنیاؤ دپاره نه دی. انما الصدقات للفقراء والمساکین الخ. ظ

([4]) ومن نذر نذرا مطلقا اومعلقا بشرط وکان من جنسه فرض وهو عبادة مقصودة الخ کصوم وصلاة وصدقة ووقف واعتکاف (الدرالمختار علی هامش ردالمحتا مطلب فی احکام النذر ج۳ ص۹۱. ط. س. ج۳ ص۷۳۵).

([5]) ولا یجوز ان یصرف ذالك لغنی ولا الشریف ذی منصب اوذی نسب او علم ما لم یکن فقیرا ولم یثبت فی الشرع جواز الصرف للاغنیاء (ردالمحتار کتاب الصوم مطلب فی احکام النذر الذی یقع للاموات ج۲ ص۱۷۵ ط. س. ج۲ ص۴۳۹). ظفیر

جواب: دغه نذر دغير الله درست نه دي بلکه حرام دي او دغير الله په نوم پرېښودل سوي سرلي وغيره هم حلال نه دي. (۱)

دمسجد په نوم باندي نذر او دهغه حکم: **سوال**: (۷۳) اکثره خلک داسي نذر کوي که چيري زما فلاني کار وسو نو دالله تعالي دپاره به په مسجد کي شيريني، خوږي وريجي، پاو باندي يو سير پتاسې يا يو سير خوږي به ورکوم ددي نذر ادا کول واجب دي اوکه نه؟ او دعدم وجوب په صورت کي دغه نذر کړل سوي شيان مالدار خوړي سي اوکه نه؟

جواب: نذر خو صحيح سو ليکن دپتاسو، شيرينيو او وريجو وغيره تعين لازم نه سو، دومره قدر نقدي ورکول هم جائز دي (۲) اومصرف ددي فقيرانو په دي مالدارو باندي خوړل نه دي پکار. (۳) فقط

نذر دغريب دپاره په سوال اوګداګرئ سره غوښتل او پوره کول درست نه دي: **سوال**: (۷۴) يو سړي نذر کړي وو چه کله زه قرآن شريف ياد کړم نو لس ديګونه به دالله تعالي دپاره په مسکينانو باندي خورم اوهغه بالکل غريب دي، هيڅ وسيله دنذر دپوره کولو يې نسته اوړوند دي اوهغه وايي چه په سوال به يې وغواړم او ادابه يې کوم نوڅه حکم دي؟

جواب: داسي نذر صحيح نه وي: کما لو قال مالی فی المساکين صدقة ولا مال له لم يصح الخ درمختار (۴) نو پر دغه نابينا او ړوند باندي لازم نه دي چه سوال وکړي او نذر پوره کړي او سوال حرام دي. فقط

دغيرالله دپاره نذرکول ناجائزدي: **سوال**: (۷۵) دغيرالله دپاره نذرکول جائزدي اوکه ناجائز؟

---

(۱) اعلم ان النذر الذی يقع للاموات من اکثر العوام وما يوخذ من الدراهم والشمع والزيت ونحوها الی ضرائح الاولياء الکرام تقربا اليهم فهو بالاجماع باطل وحرام ما لم يقصدوا صرفها لفقراء الانام (درمختار) ای بان تکون صيغة النذر لله تعالی للتقرب اليه ويکون ذکر الشيخ مرادا به فقراءه الخ (ردالمحتار مطلب فی النذر الذی يقع للاموات ج۲ ص۱۷۵. ط. س. ج۲ ص۴۳۹). ظفير

(۲) ان النذر الذی يقع للاموات من اکثر العوام الخ تقربا اليهم فهو بالاجماع باطل وحرام (درمختار) لانه نذر لمخلوق والنذر للمخلوق لا يجوز (ردالمحتار مطلب فی النذر الذی يقع للاموات ج۲ ص۱۷۵. ط. س. ج۲ ص۴۳۹). ظفير

(۳) نذر نذراً مطلقا او معلقا بشرط وکان من جنسه فرض وهو عبادة مقصودة ووجد الشرط المعلق به لزمه الناذر الخ کصوم وصلاة وصدقة (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب فی احکام النذر ج۲ ص۹۱. ط. س. ج۳ ص۷۳۵). ظفير

(۴) مصرف الزکوة وهو مصرف ايضا لصدقة الفطر والکفارة والنذر (ردالمحتار باب المصرف ج۲ ص۷۹. ط. س. ج۲ ص۳۳۹) ولا يجوز ان يصرف ذلك (ای النذر) لغنی ولا لشريف ذی منصب او ذی نسب او علم ما لم يکن فقيراً ولم يثبت فی الشرع جواز الصرف للاغنياء (ردالمحتار مطلب فی النذر الذی يقع للاموات ج۲ ص۱۲۵. ط.س. ج۲ ص۴۳۹). ظفير

جواب: دغیر الله په نوم نذر کول بالاتفاق ناجائز دي او دا نذر صحیح نه سو. ([1]) لکه چه په حدیث شریف کي راغلي دي چه دمعصیت نذر صحیح نه دي او کما قال ﷺ. ([2]) فقط

که چیري دا بچي مي ښه سو نو ذبح به کوم اوپه خلقو به یې خورم: **سوال**: (۷۶) دزید دغوا بچي بیمار سو دغه وخت ده دا وویل که چیري دا بچي ښه سو نوزه به دا ذبح کوم اوپه خلقو باندي به یې خورم په آخر کال کي ده دا بچي ذبح کړی خپله یې وخوړی اوپه خلقو یې هم وخوړی نو آیا دا نذر ادا سو اوکه نه؟

جواب: په درمختار کي دي: ولو قال ان برئت من مرضی هذا ذبحت شاة او علی شاة اذبحها فبرئ لا یلزمه شيء الخ لان الذبح لیس من جنسه فرض بل واجب کالاضحیة فلا یصح الا اذا زادوا الصدق بلحمها الخ وفی الشامی قوله لان الذبح لیس من جنسه فرض التعلیل لصاحب البحر وینافیه ما فی الخانیة قال ان برئت من مرضی هذا ذبحت شاة فبری لا یلزمه شيء الا ان یقول فللّٰه عليّ ان اذبح شاة الخ لان اللزوم لایکون الا بالنذر والدال علیه الثانی لا الاول ([3]) الخ ثم نقل فیه الاختلاف، حاصل دا چه په دي صورت کي دا نذر ونه سو بلکه وعده ده لان قوله ذبحت شاة وعد لانذره ([4]) نوددي غوښه خپله خوړل اوپه نورو باندي یې خوړل درست دي. فقط

دغیر الله دمنني اونذر اونیاز څه حکم دی؟ **سوال**: (۷۷) دغیر الله څخه نذر غوښتل یا دهغه په نوم نذر اونیاز کول اوکه چیري کار وسي نوهغه پوره کول عندالشرع څنګه دي؟

جواب: دغیر الله نذر حرام دي او داګناه کبیره ده او پوره کول دداسي نذر او دمنني جائز نه دي نوپکار دي چه توبه او استغفار وکړي او آینده داسي نذر دغیر الله دي نه کوي لکه څنګه چي ردالمحتار چه مشهور دي په شامي دباب الاعتکاف څخه مخکي دنذر دغیرالله حرمت متصلاً بیان کړي دي، غیر الله حاجت روا ګڼل حرام او ګناه کبیره ده ([5]) او معصیت په دي حدیث شریف کي راغلي دي چه دمعصیت نذر صحیح نه دي او پوره کول دهغه لازم نه دي بلکه توبه او استغفار دداسي نذر څخه لازم دي. فقط

دالله تعالی دنوم اونیاز مستحق فقیران دي: **سوال**: (۷۸) پرلسم دمحرم باندي یو نیاز دالله

([1]) الدرالمختار علی هامش ردالمحتار مطلب فی احکام النذر (ج۳ ص۹۷. ط. س. ج۳ ص۷۷۲). ظفیر

([2]) والنذر للمخلوق لا یجوز لانه عبادة والعبادة لا تکون لمخلوق (ردالمحتار مطلب فی النذر الذی یقع للاموات ج۲ ص۱۷۵. ط. س. ج۲ ص۴۳۹). ظفیر

([3]) وفاء لنذر فی معصیة ولا فیما لا یملك العبد رواه مسلم فی روایة لانذر فی معصیة الله (مشکوة باب فی النذر ص۲۹۷). ظفیر

([4]) ردالمحتار مطلب فی احکام النذر ج۲ ص۹۵. ط. س. ج۳ ص۷۳۹. ظفیر

([5]) ردالمحتار مطلب فی احکام النذر ج۳ ص۹۲. ط. س. ج۳ ص۷۴۰. ظفیر

تعالي په نوم دشهيدانو دايصال ثواب په غرض دعامو مسلمانانو دچندي څخه وکړل سو ددي خرچ کول دمسکينانو په حق کي اولي دي اوکه عام مسلمانانو يې هم خوړلی سي؟

سوال: (۲) مذکوره نياز که صرف په مالدارو باندي وخوړل سي او هيڅ مسکين پکښي شريك نه کړل سي نو په دې کي پوره ثواب کيدي سي اوکه صرف په مسکينانو باندي په خوړلو کي؟

جواب: اول خو دا طريقه دنياز مستحسنه نه وه دچندي په صورت کي نه وه پکار، چه دڅه توفيق ده ته ورکړل سوي وو نو په مسکينانو باندي به يې خوړلي وای دا افضله وه اوس په موجوده حالت کي دغه خوراك په مسکينانو باندي خوړل په کار دي په مالدارو باندي صدقه خوړل ښه نه دي. (۱)

(۲) په ديکي پوره ثواب نسته. فقط

دامامانو او وليانو په نوم جنډه او پنجه کول حرام دي: **سوال**: (۷۹) دمحرم په مياشت کي دامامانو دپنجې او دوليانو په نوم جنډه او کپړه کول او دوی ته دنذر اونياز شيان وړل او مننه منل دا ټول کارونه شنيع شرك دي اوکه صرف حرام دي په آيت کريمه انما الخمر والميسر والانصاب والازلام الخ کي دانصاب چه کم ذکر راغلي دي په هغه کي پنجې شدي وغيره داخل دي اوکه نه که چيري وي نو دهغه څه حکم دي؟

جواب: دامامانو پنجه کول او دوليانو امامانو په نوم جنډه اوکپړه کول او دا نذر ونياز کول او مننه منل اودوی متصرف ګڼل او حاجات ورڅخه غوښتل او ددوی طواف او سجده کول دا ټول شرکي اوکفري کارونه دي اوپه موجوده حالت کي په انصاب کي داخل دي، په معالم التنزيل کي دکانهم الي نصب يوفضون په تفسير کي مذکور دي: يعنون الى شيء منصوب يقال فلان نصب عينى وقال الكلبى الى علم وراية ومن قرأ بالضم قال مقاتل والكسائى يعنى الى اوثانهم اللتى كانوا يعبدونها من دون الله قال الحسن يسرعون اليها ايهم يتسلمها اولا (۲) شاه ولي الله په تفسير فتح الرحمن کي

---

(۱) اعلم ان النذر الذى يقع للاموت من اكثر العوام وما يوخذ من الدراهم والشمع والزيت ونحوها الى ضرائح الاولياء الكرام تقريبا اليهم فهو بالاجماع باطل وحرام (درمختار) لوجوه منها انه نذر لمخلوق والنذر للمخلوق لا يجوز لانه عبادة والعبادة لا تكون لمخلوق ومنها ان المنذور له ميت والميت لا يملك ومنها انه ان ظن ان الميت يتصرف فى الامور دون الله تعالى فاعتقاده ذالك كفر (ردالمحتار مطلب فى النذر الذى يقع للاموات ج۲ ص۱۷۵. ط. س. ج۲ ص۴۳۹). ظفير

(۲) مصرف الزكوة الخ وهو ايضا لصدقة الفطر والكفارات والنذر (ردالمحتار باب المصرف ج۳ ص۷۹. ط. س. ج۲ ص۳۳۹). ظفير

فرمايي وما ذبح علی النصب او هغه چه ذبح کړل سوي وي په شان دباطل معبود يعني په صورت دقبر (۱) شاه عبد القادر صاحت په تفسير موضح القرآن کي فرمايي: او چه کم ذبح سوه پريوه موقع او ځاي او چه کم يې دالله تعالي ځخه علاوه دبل چا په نوم ذبح کړه او ديو ځای په تعظيم باندي يې ذبح کړی دالله تعالي دکور ځخه علاوه، انتهی موضح (۲) اوپه درمختارکي دي: واعلم ان النذر الذی يقع للاموات من اکثر العوام وما يؤخذ من الدراهم والشمع والزيت ونحوها الی ضرائح الاولياء الکرام تقربا اليهم فهو بالاجماع باطل وحرام ما لم يقصدوا صرفها لفقراء الانام فقد ابتلی الناس بذالك ولاسيما فی هذه الاعصار وقد بسط العلامة فی شرح دررالبحار ولقد قال الامام محمد رحمه الله لو کان العوام عبيدی لاعتقتهم واسقطت ولائهم وذلك لانهم لا يهتدون فالکل بهم يعتبرون انتهی (۳) وفی ردالمحتار المعروف بالشامی قوله باطل وحرام لوجوه منها انه نذر لمخلوق والنذر للمخلوق لا يجوز لانه عبادة والعبادة لا تکون لمخلوق ومنها ان المنذور له ميت والميت لايملك ومنها انه ان ظن ان الميت يتصرف فی الامور دون الله تعالی واعتقاده ذالك کفر الخ شامی (۴) ص۱۲۸، آخر دشامي دعبارت ځخه واضحه سوه چه نذر دغير الله او غير الله متصرف ګڼل او دهغه مننه منل کفر اوشرك دي اودا ظاهردي په دې کی ځه خفا نسته او دنذر عبادت کيدل هم ددي مقتضي دي چه نذر دغير کفر دي ځکه چه دغير الله عبادت صريح کفر دي او شرك جلي دي، قال الله تعالی وما امروا الا ليعبدوا الله مخلصين له الدين، وقال الله تعالی امر الا تعبدوا الا اياه، الاية (۵). فقط

دا نذر منل چه که فلاني نوکر سو نو دده دتنخواه يوه حصه به په مسافرو خرچ کوم ځنګه دي؟

سوال: (۸۰) ديوه سړي مور نذر وکړي چه زما زوی ته نوکري پيدا سوه نو دده دتنخواه ځلوېښتمه حصه به مسافرو او اذان کوونکو ته ورکوم دا نذر جائز دي اوکه نه اوکه چيري زوی تنخواه خپلي مور ته ورنه کړي نو ځه حکم دي؟

جواب: فی الحديث لا وفاء لنذر فی معصية ولا فيما لا يملك العبد (رواه مسلم) (۶) نومذکور نذر دخپل زوی دتنخواه ځخه چه ناذر خپله دهغه مالك نه دي صحيح نه دي او پوره کول دهغی دده پرپلار او مور باندي لازم نه دي.

(۱) وګورئ معالم التنزيل. ظفير　(۲) فتح الرحمن. ظفير　(۳) موضح القرآن. ظفير

(۴) الدر المختار علی هامش ردالمحتار مطلب فی النذر الذی يقع للاموات الخ ج۲ ص۱۷۵ط. س. ج۲ ص۴۳۹. ظفير

(۵) وګورئ ردالمحتار کتاب الصوم مطلب فی النذر الذی يقع للاموات ج۲ ص۱۷۵. ط. س. ج۲ ص۴۳۹. ظفير

(۶) مشکوة باب فی النذور ص۲۹۷. ظفير

مسجد ته دشیرینیو لیږلو نذر درست دي: **سوال:** (۸۱) که چیري یو سړي دا نذر وکی چه زما فلاني کار وسو نو په مسجد کي به شیریني ورکوم نو دا نذر کول جائز دي اوکه نه؟
جواب: فقهاؤ په دي کي لیکلي دي چه داسي نذر صحیح کیږي لیکن تخصیص ددغه مسجد نه کیږي او نه ددغه مسجد دفقیرانو خصوصیت جوړیږي بلکه دکم ځای فقیران چه وغواړي پرتقسیم دي کړي. (١) فقط

دفلاني پیر دروح دپاره به خیرات کوم دا نذر درست نه دي: **سوال:** (۸۲) نذر دغیرالله څه حکم لري اوکه څه هم ددنیا عادت دی چه دبیماري یا دمصیبت په وخت وایي چه یا الله تعالي کله چي دا مریض ښه سي یا دا مصیبت لیري سي فلاني حیوان ستا په نوم باندي دفلاني پیر دروح دپاره خیرات کوم، ددې څه حکم دی؟
جواب: په دي باره فیصله کن قول دا دي چه صاحب ددرمختار او شامي نقل کړي دي: واعلم ان النذور الذی یقع للاموات من اکثر العوام وما یؤخذ من الدراهم والسمع والزیت ونحوها الی ضرائح الاولیاء الکرام تقربا الیهم فهو بالاجماع باطل وحرام (٢) الخ قوله باطل وحرام لوجوه منها انه نذر لمخلوق والنذر للمخلوق لا یجوز لانه عبادة والعبادة لا تکون لمخلوق ومنها ان المنذور له میت والمیت لا یملك ومنها انه ظن ان المیت یتصرف فی الامور دون الله تعالی واعتقاده ذالك كفر الخ ردالمحتار (٣) المعروف بالشامي، نومعلومه سوه چه نذر دغیر الله هر رنګه چه وي حرام دي نذر خالص دالله تعالي دپاره پکار دی نو دیوه بزرګ او پیر دتقرب دپاره نذرکول صحیح نه دي اومعصیة دي او پیر مخاطب کول او دهغه څخه حاجت طلب کول په هیڅ طریقه جائز نه دي لهذا ددي صورتونو څخه احتراز کول په کار دي اوصرف دالله تعالي دپاره خالص نذر کول دغیر دشرکت څخه بغیر پکار دي مثلاً دا ووایي چه ای الله تعالي که چیري زما فلاني بیماري ښه سوه نو زه به ستا دپاره دومره صدقه او خیرات په فقیرانو باندي خورم. فقط

چه هر څومره نفع وسوه نو په هغه کي به دومره خیرات کوم دا نذر نه دی: **سوال:** (۸۳) یو سوداګر دا وویل چه زه به همیشه چه کمه ګټه کیږي په یوه روپی کي به نیمه آنه دالله

---

(١) نذر لفقراء مكة جاز الصرف لفقراء غیرها لما تقرر فی کتاب الصوم ان النذر غیر المعلق لا یختص بشيء (الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب فی احکام النذر ج۳ ص۹۲. ط. س. ج۳ ص۷۴۰). ظفیر
(٢) الدرالمختار علی هامش ردالمحتار کتاب الصوم مطلب فی النذر الذی یقع للاموات ج۲ ص۱۷۵. ط. س. ج۲ ص ۴۳۹). ظفیر
(٣) وګورئ ردالمحتار کتاب الصوم مطلب فی النذر الذی یقع للاموات ج۲ ص۱۷۵ ط. س. ج۲ ص۴۳۹. ظفیر

تعالي دپاره خيرات كوم او دغه سوداګر مخكي هم پرمال تجارت باندي خاص رقم دمال تجارت دمنافعو څخه خيرات كوی او مصارف ددغه رقم دغريبانو مسكينانو او دروژه دارو په روژه ماتي او دمسجد په تعمير وغيره كي صرف كوی لهذا دا صورت دنذر دی اوكه نه؟

جواب: دا صورت دنذر نه دي چه په كومو مصارفو كي يې مخكي صرف كوی په هغو كي يې اوس هم صرف كوي سي. (۱) فقط

چه اولاد وسي نو دومره ورځي به روژه نيسم دا نذر دي: **سوال**: (۸۴) يوي زناني نذر وكی كه چيري زما اولاد وسو او الله تعالي ماته اولاد راكړی نو نهه مياشتي به روژه نيسم اوس ددي اولاد كيدونكي دي او دنذر روژه نه سي نيولي چه روژه نيسي بيماريږي لهذا دا فديه وركولي سي اوكه نه؟

جواب: په دي صورت كي ددغه روژو نيول لازمي دي چه كله ممكن وي نو ودي نيسي (۲) او چه كله دنيولو څخه بالكل نااميده سي نو دغه وخت دي دفديې وصيت وكړي. (۳)

كه زما بچي صحت ياب سو نو په مسجد كي به متائي تقسيموم دا صحيح نذر دي: **سوال**: (**۸۵**) زيد نذر وكی كه چيري زما هلك ته آرام راغي نو دالله تعالي دپاره په مسجد كي متائي تقسيموم دا جائز دي يا ناجائز او ددغه متائي كم خلق حقدار دي فقيران اوكه مالدار هم اوچه كم شيان دالله تعالي دپاره په مسجد كي وركړل سي نو هغه دمالك داجازت څخه بغير تقسيمول جائز دي اوكه نه مقيم او مسافر دواړه په مسجد كي خوراك څښاك كولي سي اوكه نه؟

جواب: دغسی نذر صحيح كيږي ليكن تخصيص دمسجد يا متائي نه سي كيدي په فقيرانو باندي دي دغه مقدار تقسيم كړي مالدارو ته ېكار نه دي (۴) اوچه كله مالك دغه متائي وغيره په مسجد كي وركړه نو چاته چه وغواړي هغه په فقيرانو باندي تقسيمولي سي، په درمختار كي يې ليكلي دي: چه دمقيم سړي په مسجد كي خوراك څښاك او

(۱) پردي باندي دنذر تعريف نه صادقيږي ان برئت من مرضى هذا ذبحت شاة الخ فبرئ لا يلزمه شيء (درمختار) لان قوله ذبحت شاة وعدلا نذر (ردالمحتار مطلب فی احكام النذر ج۳ ص۹۷. ط. س. ج۳ ص۷۳۹). ظفير

(۲) من نذر نذرا مطلقا اومعلقا بشرط وكان من جنسه فرض وهو عبادة مقصودة الخ ووجد الشرط لزم الناذر الخ كصوم وصلاة وصدقة (الدرالمختار على هامش ردالمحتار كتاب الايمان ج۳ ص۹۱. ط. س. ج۳ ص۷۳۵). ظ

(۳) نذر الصوم الابد فاكل لعذر فدى (درمختار) لكل يوم نصف صاع من بر او صاعا من شعير وان لم يقدر استغفر الله تعالى (ردالمحتار مطلب فی احكام النذر ج۳ ص۹۷. ط. س. ج۳ ص۷۴۱). ظفير

(۴) من نذر لفقراء مكة جاز الصرف لفقراء غيرها (درمختار) فلو نذر التصدق يوم الجمعة بمكة بهذا الدرهم على فلان فخالف جاز (ردالمحتار مطلب فی احكام النذر ج۳ ص۹۲ ط.س. ج۳ ص۷۴۵). ظفير

بیده کیدل مکروه دي او دمسافر دپاره درست دي: واكل ونوم الا لمعتكف الخ (۱) ليكن په شامي کي دي چه اهل صفه به په مسجد کي بيده کيدل او خبرى به يې هم كولي لان اهل الصفة كانوا يلازمون المسجد وكانوا ينامون ويتحدثون ولهذا لا يحل لاحد منعه الخ (۲) نو ديته شرك ويل جهل دي اوغلط دي. فقط

که فلاني کار وسو نو دومره لکه درود به لولم دا نذر دی اوکه نه؟ **سوال**: (۸۶) زيد نذر وکی که چيري زما فلاني كار وسو نو زه به پنځه لکه درود شريف لولم او دهغه ثواب به دفلاني بزرګ روح ته وبخښم هغه کار پوره سو او زيد دوخت نه لرلو په وجه ددغه تعداد لوستلو ځخه قاصر دي نو څه به کوي؟

جواب: په درمختارکي دي ولو نذر ان يصلى على النبى ﷺ كل يوم كذا لزمه وقيل لا (۳) ددې څخه معلومه سوه چه ددرود شريف دتعداد په نذرسره په لازم کيدو کي اختلاف دي او راجح لزوم دنذر دي (۴) نوچه ترکمه پوري کيدي سي دمذکوره تعداد دپوره کيدو کوشش دي وکړي مثلاً که چيري زر روزانه ولولي نو په پنځو مياشتوکي به يو لك سي دغه رنګه چه څومره لوستل کيږي دهغه حساب دي ليکي. فقط

که زما کار وسو نو په لمونځ ګذارو باندي به خوراک کوم دانذر دی، ددي حقدار فقراء دي:

سوال: (۸۷) که چيري يو سړي دا نذر وکړي که چيري الله تعالي زما کار پوره کړی نو يوه غوا يا بيزه به ذبح کوم او دجمعی په ورځ په لمونځ ګذوار باندي به يې خورم نو دغه غوښه صاحب نصاب هم خوړی سي اوکه نه؟

جواب: دغه غوښه دي فقيرانو ته ورکړل سي غني صاحب نصاب ته دي نه ورکوي او دجمعي دورځي او دلمونځ ګذارو تخصيص لازم نه سو کمو فقيرانو ته کم ځاي په کمه ورځ چي وغواړي ورکولي يې سي. په درمختار کي دي: نذر لفقراء مكة جاز الصرف لفقراء غيرها (۵) اوپه شامي کي دي: والنذر من اعتكاف او حج او صلاة الخ لا يختص بزمان ومكان ودرهم وفقير فلو نذر التصدق يوم الجمعة بمكة الخ مخالف جاز الخ شامی. (۶) فقط

---

(۱) الدر المختار على هامش ردالمحتار مطلب فى الغرس فى المسجد ج۹ ص۲۱۹. ط. س. ج۱ ص۲۱۱. ظفير

(۲) ايضا ج۱ ص۲۱۹ تحت قوله بان يجلس لاجله. ط. س. ج۱ ص۲۲۲. ظفير

(۳) الدرالمختار على هامش ردالمحتار كتاب الايمان مطلب فى احكام النذر ج۳ ص۹۴. ط. س. ج۳ ص۷۳۸.

(۴) قوله لزمه لان من جنسه فرض وهو الصلوة عليه ﷺ مرة واحدة فى العمر وتجب كلما ذكر وانما هى فرض عملى (ردالمحتار ايضًا ج۳ ص۹۴. ط. س. ج۳ ص۷۳۸. ظفير

(۵) الدرالمختار على هامش ردالمحتار كتاب الايمان مطلب فى احكام النذر ج۳ ص۹۴. ظفير

(۶) ردالمحتار كتاب الايمان ج۳ ص۹۲. ط. س. ج۳ ص۷۴۱. ظفير

نفلي صدقه په غني باندي خوړل څنګه دي؟ **سوال**: (۸۸) دزيد زوى بکر بيمار دي زيد دخپل زوى په نوم سره يوه غوا ذبح کړه او تقسيم يې کړه ددغه غوښي خوړل دامير او فقير دپاره څنګه دي؟

جواب: چه کله دصدقي په نيت يې داسي کړي دي لکه څنګه چه ظاهره ده نو دغه غوښه په فقيرانو اومسکينانو باندي تقسيمول په کار دي اګرچه په وجه دنفلي صدقې مالدارو ته يې هم ورکول جائز دي ليکن بهتره دا ده چه په فقيرانو مسکينانو باندي وخوړل سي.

غوا يې نذر کړه نو په دې کي دقربانۍ شرط ضروري سو: **سوال**: (۸۹) يو سړي په خپل ځان باندي نذر وکی که چيري فلاني کار پوره سي نو يوه غوا به دالله تعالي دپاره ذبح کوم او تقسيموم اوس کار پوره سو نذر ادا کول واجب دي، ليکن بل طرفته په يو څو علماؤ کي لويه تفرقه واقع سوه يوه ډله دا وايي چه غوا چه دهرڅومره عمر وي ذبح کول يې پکار دي نور علماء دا وايي چه کم شرطونه په قرباني کي دي هغه به په دغه منذور حيوان کي هم وي کنه نو نذرانه به نه ادا کيږي، په دغه دواړو قولونو کي دچا قول دشريعت په نزد معتبر او صحيح دي او غوا دې ته ويل کيږي چه لويه او ځوانه وي. بينوا تؤجروا !

جواب: قال في الدرالمختار ولو قال لله عليَّ ان أذبح جزوراً واتصدق بلحمه فذبح مكانه سبع شياة جاز كذا فى مجموع النوازل ووجهه لايخفى قوله ووجهه لا يخفى هو ان السبع تقوم مقامه فى الضحايا والهدايا (۱) ددي څخه معلوميږي چه دقرباني دشرطونو لحاظ په ديکي ضروري نه دي. فقط

صرف دنذر نيت يې وکی په ژبه يې ونه ويل نو نذر ونه سو: **سوال**: (۹۰) زيد نيت کوي که چيري زما دفلاني دوکان يا مکان کرايه زياته سوه نو ددي ديوي مياشتي کرايه به دالله تعالي په نوم ورکوم اوس ددغه دوکان يا مکان کرايه زياته سوه زيد ددي ديوې مياشتي کرايه دوعدي مطابق دخير په مصرف کي خرچ کول غواړي په داسي نذر که دالله ﷻ دپاره خوراك پوخ کړي په طالبانو مسکينانو وغيره باندي يې خوړلي سي اوکه نه؟ او ددې څخه خپله هم څه خوړلي سي اوکه نه؟ اوپه خپلو عزيزانو او خپلوانو باندي خوړلي سي اوکه نه؟ ديوه مسجد يا مدرسی په تعمير کي يا په څاه کي دا لګولي سي اوکه نه؟ آيا دوى ته اختيار سته اوکه نه چه موعوده رقم چه په کم کار خير کي لګول غواړي ولګوي؟

(۱) وګورئ: ردالمحتار کتاب الايمان مطلب فى احكام النذر ج۳ ص۹۲. ط. س. ج۳ ص۷۴۰. ظفير

جواب: زيد چه کله صرف داسي نيت کړي دي اوپه ژبه يې هيڅ نذر نه دي کړي نوپه دي حالت کي پرزيد باندي هيڅ نه لازميږي که چيري تبرعًا څه شي بطور صدقه په محتاجو وغيره باندي وخوري نو ښه دي ددې څخه يې خپله هم خوړلي سي اوپه خپلو عزيزانو اوخپلوانو باندي يې هم خوړلي سي اوچه کم رقم وغواړي په مسجد کي دي هم ولګوي دثواب کار دي اوکه چيري په ژبه يې نذر منلى وي داسي چه په صورت مذکوره کي زما پرذمه دي چه دالله ﷻ دپاره به ديوه مياشت کرايه ورکوم نوبيا تمام رقم په فقيرانو اومسکينانو باندي خوړل ضروري دي اوکه چيري ددغه رقم خوراك پوخ کړي او وې خوري نوپه تمامو محتاجو باندي دي وخوري خپله دي دهغه څخه نه خوري اونه دي په دوستانو او مالدارو باندي خوري اونه دي په مسجد کي لګوي غرض دنذر دادي چه صدقه کول په مسکينانو باندي واجب دي اوکه چيري نذر نه وي نو بيا اختيار دي لکه څنګه چه مخکي وليکل سوه. (١)

دامام حسين ﵁ نذرجائز نه دي: **سوال**: (۹۱) يو سړي دالله دپاره په داسي طريقى سره نذر وکى که چيري زما زوی وسو نو دالله دپاره به نياز کوم او ثواب به دامام حسين ﵁ روح ته رسوم اوس دده زوی وسو او ده هر کال يو هنسلي (چه يو خاص اميل دي) جوړکړی او اينسولي دي اوس هغه پوره سوي دي هغه غواړي چه دالله تعالي دپاره ثواب دامام حسين ﵁ روح ته ورسوي دا صورت جائز دي او که نه؟

جواب: داسي نذر چه په هغه کي دمړو تقرب وي په اتفاق سره باطل او حرام دي: للاجماع علی حرمة النذر للمخلوق ولا ينعقد الخ (٢) نو دامام حسين ﵁ دايصال ثواب نذر کول شرعًا صحيح نه سوه او آئنده داسي نذر نه دي کول پکار چه کم نذر دالله تعالي دپاره وکړل سي هغه خالص دالله تعالي دپاره پکار دي په ديکي دڅه ايصال ثواب اراده او نيت نه دي کول په کار نو دا نذر چه سائل کړي دي په ديکي دتقرب دغير الله شائبه معلوميږي ددي څخه توبه کول په کار دي او آينده داسي نذر نه دي کول پکار نذر خاص دالله تعالي دپاره پکار دي که چيري خاص دالله ﷻ دپاره نذر ومنل سي نو لازميږي او مصرف ددي فقراء او مساکين دي (٣) دغه طريقه چه تا دنذر خيال پرکړي دي دشرع څخه خلاف ده اوهنسلي وغيره جوړول اوبچي ته يې وراغوستل حرام دي دادجاهلانو رسمونه

(١) مصرف الزکوة الخ وهو ايضا مصرف لصدقة الفطر ولکفارة والنذر (ردالمحتار باب المصرف ج٢ ص٧٩. ط. س. ج٢ ص ٣٣٩). ظفير

(٢) وګورئ: ردالمحتار کتاب الصوم مطلب فی النذر الذی يقع للاموات الخ ج ٢ ص ١٧٥. ط. س. ج ٢ ص ٤٣٩. ظفير

(٣) ومصرف الزکوة الخ وهو مصرف ايضا لصدقة الفطر والکفارة والنذر (ردالمحتار ج٢ ص٧٩. ط. س. ج٢. ص٣٣٩). ظ

دي الله تعالي دي مور ځيني وژغوري، آمين. فقط

نذر يې دقرباني کړيدی نوپه قراني سره نذر پوره کيږي: **سوال**: (۹۲) زما خور په جهاز کې سخته بيماره سوه ما نذر وکی که چيري په خيريت سره دقيام ځای ته ورسيده نو قرباني به کوم الحمد لله چه په خيريت سره ورسيده آيا کمه مننه چه يې کړي ده هغه دقربانی کولو په صورت کي پوره کيدي سي اوکه همغه قيمت به په يوه يتيم خانه وغيره کي ورکول کيږي؟

جواب: هغه مننه چه دقربانی يې کړي ده نو قرباني کول په کار دي په قربانی سره به دغه نذر پوره سي. ([1]) اودا دقربانی په ورځو يعني په (۱۰، ۱۱، ۱۲ دذي الحجي کيږي). ([2])

که هلک ښه سو نو قرآن به ختموم دا نذر لازم نه دي: **سوال**: (۹۳) يو سړي نذر وکی که هلك ته آرام راغی نو په لسو حافظانو سره به يو قرآن شريف ختموم په زړه کي يې دا هم دي چه په دوی باندي به خوراك هم کوم په دي صورت کي دنذر ادا کول واجب دي اوکه نه؟

جواب: دا نذر لازم نه سو. فقط

دنذر شي خپله خوړل جائز نه دي: **سوال**: (۹۴) يو سړي نذر ومنی که الله ﷻ زما دا کار آسانه کړی نو زه به دالله تعالي دپاره پير صاحب ته شيريني ورکوم دده هغه کار وسو نو ددغه نذر شی دي خپله هم خوړلي سي اولاد ته يې هم ورکولي سي او غني ته هم يې ورکولي سي او مسکينانو او فقيرانو ته هم، دا جائز دي يا ناجائز؟

جواب: دنذر شي خپله نه دي خوړل پکار مسکينانو او فقيرانو ته يې ورکول پکار دي ([3]) او دغسی نذر نه دي کول په کار بلکه داسي کول پکار دي که چيري زما کار وسو نو دالله تعالي دپاره به محتاجو ته دومره قدر ورکوم (دنذر شي دغني دپاره هم خوړل جائز نه دي لکه زکوة او صدقة الفطر، ظفير). ([4]) فقط

([1]) لو نذر قبل ايام النحر ان يضحى لزمه شاتان احداهما بالنذر والاخرى للغى (ردالمحتار كتاب الاضحية ج۵ ص۲۹۱. ط. س. ج۶ ص۳۳۲). ظفير

([2]) وحيث علمت ان الاضحية اسم لما يذبح فى وقت مخصوص لم يكن فيها الغاء الوقت فاذا نذرها يلزم فعلها فيه والا لم يكن اتيا بالمنذور لانها بعدها لا تسمى اضحية (ردالمحتار كتاب الاضحية ج۵ ص۲۹۱. ط. س. ج۲ ص۳۳۲). ظفير

([3]) مصرف الزكوة الخ وهو مصرف ايضا لصدقة الفطروالكفارة والنذر (ردالمحتار باب المصرف ج۲ ص ۷۹. ط. س- ج۲ ص۳۳۹). ظفير

([4]) ولا الى من بينها ولاء الخ اوزوجية الخ ولا الى غنى يملك قدر نصاب فارغ عن حاجته الاصلية من اى مال كان (الدر المختار على هامش ردالمحتار باب المصرف ج۲ ص۸۲ – ۸۸. ط. س. ج۲ ص۳۳۲). ظفير

په غریبانو باندې دخوراک کولو نذر ئي ومنی دهغه روپۍ په انګوره فنډ کي ورکول څنګه دي؟ **سوال**: (٩٥) یو سړي نذر ومنی که زما په تجارت کي دومره ترقي وسوه نو زه به یو لك فقیرانو ته خوراك ورکوم الله تعالي دده کار پوره کی نو ددي قیمت په انګوره فنډ کي غازیانو ته ورکولي سي اوکه نه؟ او دغه مذکوره سړي چه فقیرانو ته وچه غله ورکړي ده هغه ادا سوه اوکه نه؟

جواب: دنذر درقم مصارف هم هغه دي کم چه دزکات مصارف دي او په دې کي دفقیرانو تملیك شرط دي (١) نولکه څنګه چي دزکات رقم دتملیك څخه وروسته دیو فقیر په انګوره فنډ کي ورکولي سي نو دغسی دنذر رقم هم دحیلې دتملیك څخه وروسته په انګوره فنډ ورکولي سي. او طریقه دتملیك دا ده چه دلته یو محتاج ته چه دنصاب مالك نه وي زکات یا نذر ورکړل سي او هغه یې مالك جوړ کړل سي بیا هغه تهوویل سي چه دي دخپل طرف څخه که چیري وغواړي په انګوره فنډ کي دي ورکړي لیکن پرمذکوره نذر یو اشکال دا دي چه ناذر یو لك فقیرانو ته دخوراك ورکولو نذر کړي دي نو دومره قدر خلق دي دنذر مالکان جوړ کړه سي او هر یو فقیر ته دي دیوه روژه ماتي په اندازه قیمت نقد ورکړل سي یا دي ورباندي خوراك وکړه سي او څومره قدر فقیرانو ته چي غله وچه ورکړل سوي ده هغه ادا سوه باقي فقیرانو ته دي خپله غله یا نقدي ورکړل سي. لیکن ددي تحریر څخه وروسته دشامي دکتلو څخه معلومه سوه چه په نذرکي دفقیرانو تعداد پوره کول ضروري نه دي ددي عبارت دا دي: قلت وکما لا یتعین الفقیر لا یتعین عدده ففی الخانیه ان زوجت بنتی فالف درهم من مالی صدقة لکل مسکین درهم فزوج ودفع الالف الی مسکین جملة جاز الخ (٢) نوپه دي بناء باندي یو لك فقیرانو ته خوراك ورکول یا غله نقد وغیره ورکول ضروري نه سول بلکه یوه فقیر ته یې هم ورکولي سي لهذا په انګوره فنډ کي دلیږلو دپاره دیوه فقیر مالك کول او دغه رقم انګوره فنډ ته لیږلي سي. (٣) فقط

نذر یې ومنی او دپوره کولو څخه مخکي مړ سو څه حکم دي؟ **سوال**: (٩٦) یو هلك چه په کالج کي یې سبق وایه هغه په خپل پاس کیدو باندي د٣٢ زره رکعته نفلونو کولو نذر

---

(١) مصرف الزکوة الخ وهو مصرف ایضا لصدقة الفطر والکفارة والنذر وغیر ذلك من الصدقات الواجبة (ردالمحتار علی باب المصرف ج٢ ص٧٩. ط. س. ج٢ ص٣٣٩). ظفیر

(٢) وګورئ ردالمحتار مطلب فی احکام النذر تحت قوله لما تقرر فی کتاب الصوم ج٣ ص ٩٦ – ٩٧. ط. س. ج٢ ص٧٤١). ظفیر

(٣) وحیلة التکفین بها التصدق علی فقیر ثم هو یکفن فیکون الثواب لهما وکذا فی تعمیر المسجد الخ (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار کتاب الزکوة ج٢ ص١٧. ط. س. ج٢ ص٢٧١). ظفیر

دالله تعالي دپاره منلي وو دپاس كيدو څخه وروسته هغه نفلونه شروع كړل ليكن هغه صرف يوه مياشت ژوندي پاته سو آيا دهغه نذر ساقط سو اوكه نه؟

جواب: كه چيري متوفي دفديه وصيت كړي وي او مال يې پرې ايښى وي نو دده پر ورثاؤ باندي فديه وركول ددغه لمونځونو دهغه دمال څخه واجب به وي ليكن كله چه هغه وصيت نه دي كړي نو پر وارثانو باندي فديه وركول لازم نه دي. (۱) فقط

ديولسمي نذر جائز نه دي: **سوال**: (۹۷) كه چيري يو سړي منه وكړي كه چيري زما واده وسو نو دلوى پير صاحب يولسمه به كوم تاسو لوى پير ياست دعا وكړئ، يا دبل سړى اولاد نه وي هغه منه ومني چه اى شهيد كربلا تاسو په درگاه كي مقبول ياست دعا وكړئ كه چيري زما زوى وسو نو زه به ستا دنوم دلدل خيژوم، او الله تعالي هغه دعا قبوله كړي زوى يې وسو يايو سړي ته مرض لا حق سو دعلاج څخه عاجز راغي نذر يې وكى دخواجه معين الدين چشتي رحمه الله كه چيري ماته پوره شفاء حاصله سوه نو غلاف به غوړوم، نو داسي قسم نذر منل او دهغه پوره كول او ادا كول جائز دي اوكه نه؟

جواب: دگناه نذر شرعاً صحيح او معتبركيږي نه لكه څنگه چي په حديث شريف كي راغي: لانذر فى معصية او كما قال ﷺ (۲) لهذا مذكور نذر صحيح نه دي اونه ددي پوره كول ضروري دي او دقسم كفاره ادا كول واجب دي. فقط

دروضي دحاضرئ نذر يې ومنى ليكن دى مفلس دي څه به كوي؟ **سوال**: (۹۸) يو سړي نذر ومنى دمهلك مرض په وخت كي چي يا رسول الله كه چيري ماته شفا وسوه نو ستا روضى ته به درځم او دبيت الله حج به كوم اوس هغه تندرست سو ليكن دي بالكل مفلس او عيالدار دى په دي باره كي څه حكم دي؟

جواب: دنبي ﷺ روضي ته دتگ نذر صحيح نه سو لانه ليس من جنسه واجب (۳) او دحج نذر صحيح سو چه كم وخت يې طاقت وسي حج دي وكړي قال وان لم يكن شيء فلا شيء

---

(۱) ولومات وعليه صلوات فائتة واوصى بالكفارة يعطى لكل صلوة نصف صاع من بر كالفطرة وكذا حكم الوتر والصوم (درمختار) فاذا لم يوص فات الشرط (ردالمحتار مطلب اسقاط الصلوة عن الميت ج۱ ص۶۸۲. ط. س. ج۲ ص۷۲). ظفير

(۲) اعلم ان النذر الذى يقع للاموات من اكثر العوام الخ تقربا اليهم فهو بالاجماع باطل وحرام (درمختار) لوجوه منها انه نذر لمخلوق والنذر للمخلوق لا يجوز لانه عبادة والعبادة لاتكون لمخلوق ومنها ان المنذور له ميت والميت لا يملك ومنها انه ان ظن ان الميت يتصرف في الامور دون الله تعالى فاعتقاده ذلك كفر الخ (ردالمحتار كتاب الصوم مطلب النذر الذى يقع للاموات ج۲ ص۱۷۵. ط. س. ج۲ ص۴۳۹). ظفير

(۳) ولم يلزم الناذر ما ليس من جنسه فرض كعيادة مريض الخ (الدرالمختار على هامش ردالمحتار كتاب الايمان ج۳ ص ۹۲. ط. س. ج۳ ص۷۳۶). ظفير

علیه کمن اوجب علی نفسه الف حجةٍ لایلزمه بقدر ما عاش فی کل سنة حجة ([1]) وفیه ایضًا لو نوی شیئًا من حج او عمرة او غیره فعلیه ما نوٰی ([2]) وفیه ایضًا قول درمختار ولو نذر بثلاثین حجة رد بقدر عمره (درمختار) ای لزمه ان یحج بقدر ما یعیش ومشی فی الباب المناسك علی انه یلزمه الکل وعلیه ان یحج بنفسه بقدر ما عاش ویجب الایفاء بالبقیة الخ وفی الفتح الحق لزوم الکل ([3]). فقط

دنذر په خوړلو کي دعقيقې غوښه ورکول درست دي: **سوال**: (۹۹) زید نذر ومنی چه کله زه په خپل مکان کي اوسیدل شروع کوم نوپه خپلو دوستانو اواحبابو باندي به خوراك خورم دي دخپل هلك عقیقه هم کوي ګویا که چیري دي عقیقه وکړي دهغه غوښه په منلو دمذکوره نذر پخه کړي په دوستانو او احبابو باندي وخوري نو نذر به وسي اوکه نه؟

جواب: په دي صورت کي به نذر ادا سي (په دوستانو او احبابو باندي دخوراك خوړلو په نذر سره نذر نه کیږي اونه هغه لازمیږي: ولم یلزم الناذر ما لیس من جنسه فرض کعیادة مریض الخ ([4]) (درمختار) ظفیر). فقط

دنذر عهد او دهغه حکم: **سوال**: (۱۰۰) زید په خپل ځان باندي دا عهد قائم کړی که چیري فلانی ګناه صادره سوه نو په یو ځل ګناه صادریدو باندي به مبلغ ۴ روپئ دالله تعالي په لاره کي خرچ کوم بیا دغه ګناه اووه ځله ورڅخه صادره سوه دپوره سزا ۲۸ روپی سوي اوس دطالب علمئ په زمانه کي دادا کولو وسعت نسته دطالب علمئ څخه وروسته یې ادا کولي سي اوکه نه؟ په درود شریف او استغفار سره هم ادا کیدي سي اوکه نه؟

جواب: که چیري لفظ دنذر یې ویلی وي نو دمذکوره رقم ادا کول ضروري دي چه کم وخت یې وسعت وسي نو ادا دي کړي ([5]) اوکه چیري دنذر لفظ یې ونه وایه نو درقم ادا کول واجب نه دي توبه او استغفار کول او درود شریف بهر حال لوستل ښه دي. فقط

([1]) ردالمحتار مطلب فی احکام النذر تحت قوله لزمه ما یملك منها فقط ج۳ ص۹۷. ط. س. ج ۳ ص۷۴۱). ظ

([2]) ایضا تحت قوله ولو نوی صیاما الخ. ط. س. ج۳ ص۷۴۲. ظفیر

([3]) وګورئ: ردالمحتار مطلب فی احکام النذر ج۳ ص۹۸. ط. س. ج۳ ص۷۴۲. ظفیر

([4]) الدر المختار علی هامش ردالمحتار مطلب فی احکام النذر ج۳ ص۹۲. ط. س. ج۳ ص۷۳۲ وقال ان برئت من مرضی هذا ذبحت شاة او علیّ شاه اذبحها فبرئ لا یلزم شيء لان الذبح لیس من جنسه فرض فلا یصح الا اذا زاد واتصدقها فلیزمه لان الصدقة من جنسها فرض (ایضا ج۳ ص۹۵. ط. س. ج۳ ص۷۳۹). ظفیر

([5]) په جواب کي چه کم صورت درج دي هغه نذر نه معلومیږي چونکه هغه عهد او وعده معلومیږي: لانه وعد لانذر یؤیده ما فی البزازیه لو قال ان سلم ولدی اصوم ما عشت فهذا وعد (ردالمحتار ج۳ ص۹۲. ط. س. ج۳ ص۷۴۰) نذر ان یتصدق بالف من ماله وهو یملك دونها لزمه ما یملك منها فقط هوالمختار لانه فیما لم یملك لم یوجد النذر فی الملك (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار مطلب فی احکام النذر ج۳ ص۹۷. ط. س. ج۳ ص۷۴۱). ظفیر

که کامیاب سوم نوهره جمعه به روژه نیسم نذر دي: **سوال:** (۱۰۱) بنده قسم وکی چه په الله تعالي قسم که چیري زه په دي امتحان کي کامیاب سوم نو همیشه به هره جمعه روژه نیسم نو په امتحان کي کامیاب سو چه دهغه اووه نیم کاله سوي دي آیا دقسم کفاره زما پر ذمه واجب ده که چیري روژه ساتل واجب وي نودتیرو سوو ورځو قضا لازمه ده اوکه نه؟

جواب: دا لفظ چه په الله تعالي قسم که چیري بنده په دي امتحان کي کامیاب سي نو همیشه به هره جمعه روژه نیسم نذر دي چه دهغه پوره کول واجب دي او چونکه دلته تعلیق دنذر په داسي شرط سره کړل سوي دي چه دهغه دکیدو اراده وه ([1]) یعني دهغه وجود مقصود وو ددي وجي دصاحب هدایه وغیره دتفصیل موافق په دې کي دنذر څخه علاوه بل احتمال نسته کما بینه تحت قوله وان علق نذراً بشرط فوجد الشرط فعلیه الوفاء بنفس النذر الخ ص۴۲۳، نو آئنده هره جمعه روژه نیول واجب دي اوکه چیري تر اوسه پوري یوه جمعه پاته سوي وي دهغې قضا هم واجب ده ([2]) اوکه چیري دظاهر الروایة عبارت په عدم تمیز باندي مطلقاً حمل کړل سي او دنذر روایت مطلقا موجب دتخییر ومنل سي نو دتیري سوي جمعې په حق کي دي حمل علي الیمین وکړي یوه کفاره کافي کیږي، کما فی الشامی کفارات الایمان اذا کثرت یخرج بالکفارة الواحدة عن عهدة الجمیع ج۳ ص۵۲۰، داطریقه دصاحب بحر ده لیکن صاحب شامي ددي تردید کړي دي او دا یې ثابته کړیده چه په دي مسئله کي دتخییر په هیڅ قول سره په صورت مسئوله کي دقسم احتمال ګرسره سته نه صرف نذر دی چه دهغه پوره کول واجب دي. ([3]) فقط

عادةً چه څوک روژې نیسي که په هغه کي دنذر نیت وکړي نو ادا کیږي اوکه نه؟ سوال: (۱۰۲) که چیري یو سړي دروژو نذر وکړي او دده معمول هم دروژو دي مثلاً په ایام بیض یا پنجشنبه وغیره کي روژه نیسي که چیري په صیام معموله کي یې دنذر دروژو نیت وکی نو دنذر څخه به ادا سي اوکه نه؟

([1]) فان علقه بشرط یریده کان قد غائبی اوشفی مریضی یوفی وجوبا ان وجد الشرط (الدر المختار علی هامش ردالمحتار مطلب فی احکام النذر ج۳ ص۹۴. ط. س. ج۳ ص۷۳۸). ظفیر

([2]) نذر صوم شهر معین لزمه متتابعا لکن ان افطر فیه یوماً قضا وحده الخ ولو نذر العموم الابد فاکل لعذر فدی (الدر المختار علی هامش ردالمحتار مطلب فی احکام النذر ج۳ ص۹۷. ط. س. ج۳ ص۷۴۱). ظفیر

([3]) والحاصل انه لیس فی المسئلة سوی قولین الاول ظاهر الروایة عدم التخییر اصلا والثانی التفصیل المذکور واما ما توهمه فی البحر من القول الثالث وهو التخییر مطلقا وانه المفتی به فلا اصل له (ردالمحتار کتاب الایمان ج۳ ص۹۴ ط. س. ج۳ ص۷۳۸). ظفیر

جواب: په دي صورت کي به نذر مطلق ادا سي. (۱)

که چيري دمصيبت څخه مي نجات پيداکي نو هره جمعه به روژه نيسم نذر دي: **سوال**: (۱۰۳) يو سړي په مرض يا مصيبت کي گرفتار سو داسي الفاظ يې وويل که چيري زه ددي مرض يا ددي مصيبت څخه خلاص سوم نو تمامه جمعه به روژه نيسم دا نذر لازم سو او که نه؟ او دلزوم په صورت کي که چيري بغير دجمعې ادا کړل سي څه حکم لري؟

جواب: که چيري چاپه مذکوره الفاظو سره نذر کړي وي دايفاء دشرط دتحقق څخه وروسته دا لازم دي او روژه دهري جمعې پرده لازمه سوه اوکه چيري بعضي جمعه په څه وجه ونه نيسي نو قضاء دي په نورو ورځو کي راوړي: ثم ان علقه بشرط يريده کان قدم غائبي او شفي مريض يوفي وجوبا الخ (۲) درمختار. فقط

که مقصد پوره سي نوپه فلاني مسجد کي به وعظ کوم نذر نه دي: **سوال**: (۱۰۴) يو سړي نذر وکی که چيري دا مقصد پوره سو نو دالله تعالي دپاره به دکانپور په مسجد کي وعظ کوم نو دا نذر واجب سو اوکه نه؟ يو سړي په حالت دطالب علمی کي خيال وکی که چيري ددي ځای درسيات پوره سول نو دالله تعالي دپاره دديوبند په مدرسه کي بغير دتنخواه څخه ټول کال درس کوم دا نذر واجب سو اوکه نه؟

جواب: په دي دواړو صورتونو کي نذر ونه سو او پوره کول ددي واجب نه دي. (۳)

که چيري کار وسو نو يو اوښ به ذبح کوم اوپه غريبانو باندي به يې خورم نذر دي: **سوال**: (۱۰۵) يو سړي نذر ومنی چه ای الله که چيري فلاني کار زما وسو نو يو اوښ به ذبح کوم اوپه محتاجو باندي به يې تقسيموم کار پوره سو اوس هغه غواړي چه داوښ قيمت غريبانو ته ورکړي دا جائز دي يا ناجائز؟

جواب: په درمختار کي دي: ولو قال ان برئت من مرضى هذا ذبحت شاة (الى ان قال) الا زادوا تصدق بلحمها فيلزمه الخ (۴) ددي عبارت څخه واضحه سوه چه په صورت مسئوله کي ددغه سړي دپاره اوښ ذبح کول او محتاجو ته ورکول لازم دي. فقط

په مسجد کي دمټائي نذر او دامام او مؤذن دپاره دهغه حکم: **سوال**: (۱۰۶) په مسجد کي

---

(۱) ومن نذر نذراً مطلقا اومعلقا بشرط وكان من جنسه فرض وهو عبادة مقصودة الخ ووجد الشرط لزمه الناذر (درمختار) اى لزم الوفاء باصل القربة التى التزمها لا بكل وصف التزمه لانه لو عين درهما اوفقيرا او مكان للتصدق او للصلوة فالتعيين ليس بلازم (ردالمحتار مطلب في احكام النذر ج۳ ص۹۱. ط. س. ج۳ ص۷۳۵).

(۲) الدر المختار على هامش ردالمحتار مطلب ايضا ج۳ ص۹۴. ط. س. ج۳ ص۷۳۸. ظفير

(۳) لم يلزم الناذر ما ليس من جنسه فرض (الدر المختار على هامش ردالمحتار مطلب ايضا ج۳ ص۹۲. ط. س. ج۳ ص۷۳۶). ظفير

(۴) الدر المختار على هامش ردالمحتار مطلب فى احكام النذر ج۳ ص۹۵. ط. س. ج۳ ص۷۳۵. ظفير

دپتاسو وغیره نذر کوي په دي سره نذر کیږي اوکه نه؟ او مؤذن او امام ته ددغه شیانو خرخول جائز دي اوکه نه؟

جواب: مطلقا دصیغی دنذر څخه بغیر نذر نه کیږي (۱) او چه کم شیان دامام دپاره دی هغه استعمالولي او خرخولي سي او چه کم شیان دامام دپاره نه دي مثلاً تیل وغیره دمأکولاتو څخه علاوه شیان، نوپه مسجد کي ددي خرڅول او خپله ایښول ددې درست نه دي. (۲) فقط

<u>دنذر دحیوان او دقرباني دحیوان شرطونه</u>: **سوال**: (۱۰۷) دنذر په حیوان کي دقربانۍ دحیوان شرطونه مثلاً غوا ددوه کالو او بیزه دیوه کال وغیره وغیره به وي اوکه نه؟

جواب: دنذر په حیوان کي دقرباني دحیوان شرطونه په کار دي: ولو قال لله علی ان اذبح جزوراً واتصدق بلحمه فذبح مکانه سبع شیاه جاز الخ ووجهه لا یخفی (درمختار) قوله ووجهه لا یخفی هو ان السبع تقوم مقامه فی الضحایا والهدایا (۳) ددي عبارت څخه معلومیږي چه نذر به پر اضحیه او هدی باندي قیاس کیږي. فقط

<u>دبل سړي په مال کي نذر</u>: **سوال**: (۱۰۸) نذر کول په مال دغیرکي صحیح دي اوکه نه؟

جواب: نذر په مال دغیر کي نه صحیح کیږي نوپوره کول ددي لازم نه دي، فی الدرالمختار لانه فیما لا یملك لم یوجد النذر فی الملك الخ فلم یصح وفی الشامی ای وشرطه صحة النذر ان یکون المنذور ملکا للناذر الخ. فقط

<u>ددیو یاپیري په نوم دحیوان قرباني</u>: **سوال**: (۱۰۹) یو سړي یو حیوان ددیو ماتایا په نوم یا دسید سالار وغیره وغیره په نوم باندي پریښودی اوس دهغی اخیستل او قرباني کول جائز دي اوکه نه؟

جواب: جائز نه دي. فقط

<u>نذرپه ارواحو دپیرانو</u>: **سوال**: (۱۱۰) یو سړي نذر ومنی که چیري زما فلاني کار وسو نو دالله دپاره یا په ارواحو دپیر صاحب دومره قدر نقد یا یوجنس به ورکوم او چه کله هغه کار وسو نو دغه نقد او جنس په مسجد کي خرچ کول جائز دي اوکه نه اوکه چیري جائز نه وي نو باید څه په وسي؟

جواب: که چیري دالله تعالي دپاره یې نذرمنلي وي نومحتاجوته دي ورکړي (۴) اوپه دوی

---

(۱) من نذر نذراً مطلقا اومعلقا بشرط الخ (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار کتاب الایمان ج۳ ص۹۱). ظفیر

(۲) ردالمحتار مطلب فی احکام النذور ج۳ ص۹۲. ط. س. ج۳ ص۷۳۵. ظفیر

(۳) ردالمحتار مطلب فی احکام النذر ج۳ ص۹۷. ط. س. ج۳ ص۷۴۱، وفی البحر عن الخلاصة لو قال لله علی ان هدی هذه الشاة وهی ملك الغیر لا یصح النذر (ردالمحتار مطلب ایضا ج۳ ص۹۳. ط. س. ج۳ ص۷۳۷). ظ=

دي صدقه کړي اوچا چه دپیرانو په روحونو نذر منلي دي نو داجائز نه دي او دغه نذر منعقد نه سو. ([۱])

دبچیانو دپاره یې دمټائي منت وکی دهغه قیمت غریبانو ته ورکول څنګه دي؟ **سوال**: (۱۱۱) یو سړي منت ومنی که چیري الله تعالي ماته تندرستي راکړي نو زه به په خورد سال ماشومانو باندي شیریني تقسیموم وروسته چه کله جوړ سو خیال یې راغي چه شیریني تقسیمول فضول دي نوکه یو محتاج بیکس ته دا قیمت ورکړي نو جائز دي اوکه نه؟

جواب: په دي صورت کي محتاجو ته هغه رقم چه معین کړي یې دي ورکولي سي شیریني تقسیمول ضروري نه دي ([۲]). فقط

دناجائز نذر روپی په کار خیرکي: **سوال**: (۱۱۲) یو سړي نذر ومنی که چیري زما فلاني کار وسو نو زه به میلاد شریف یا مجلس دامام حسین ﷺ کوم په کارکیدو باندي دنذر دروپو مناسب صرفه په کم شکل کي کیدل پکار دي؟

جواب: مسلمانانو محتاجو ته یې ورکول پکار دي په مجالس مذکوره کي دي نه خرچ کوي (ځکه چه دمیلاد او دامام حسین ﷺ دمجالسو نذرکول درست نه دي، نو دا نذر نا جائز سو ([۳]) ظفیر). فقط

دروژي دنذر پوره کول: **سوال**: (۱۱۳) دهندي خاوند په یو آفت کي مبتلا سوي وو نو دي دشپږو میاشتو دروژو پرله پسي نیولو نذر وکی نو الله تعالي ددي خاوند ته نجات ورکړی هندي دعهد په پوره کولوکي تاخیر کوی تردې چه سخته بیماره شوه اوس به هغه څه کوي؟

جواب: دصحت انتظار دي وکړي او دصحت څخه وروسته دي دنذر روژي ونیسي اوکه چیري ښه نه وي نو دفدیې وصیت دي وکړي ددي دمال څخه دي ددي وارثان فدیه ورکړي او فدیه دیوي روژي دفطر په شان ده په ژوند کي فدیه ورکول ددي دپاره درست نه دي یعني په دغه فدیي سره به روژه نه ادا کیږي دجوړیدو څخه وروسته به روژه نیول

([۴]) ولو قال ان برئت من مرضی هذا ذبحت شاة او علی شاة اذبحها فبرئ لا یلزمه شیء الخ الا اذا زاد واتصدقها بلحمها فیلزمه (الدر المختار علی هامش ردالمحتار مطلب فی احکام النذر ج۳ ص۹۵. ط. س. ج۳ ص۷۳۹).

([۱]) اعلم ان النذر الذی یقع للاموات من اکثر العوام الخ تقربا الیهم فهو بالاجماع باطل وحرام (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار کتاب الصوم ج۲ ص۱۷۵. ط. س. ج۳ ص۷۳۹). ظفیر

([۲]) نذر ان یتصدق بعشرة دراهم من الخبز فتصدق بغیره جاز ان ساوی العشرة کتصدق بثمنه (الدر المختار علی هامش ردالمحتار مطلب فی احکام النذر ج۳ ص۹۲. ط. س. ج۳ ص۷۴۱). ظفیر

([۳]) اعلم ان النذر الذی یقع للاموات من اکثر العوام الخ تقربا الیهم فهو بالاجماع باطل وحرام (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار کتاب الصوم ج۲ ص۱۷۵. ط. س. ج۳ ص۷۳۹ قبیل باب الاعتکاف). ظفیر

وي کنه نو وصيت کول به لازم وي: وقضوا لزومًا ما قدروا بلا فدية الخ ولو ماتوا بعد زوال العذر وجبت الوصية الخ. (۱)

دبيمار دپاره دحيوان فديه: **سوال**: (۱۱۴) په عوامو او خواصو کي دستور دي چي دبيمار دصحت په غرض سره سرلی ذبح کوي او په ظاهره کي دده نيت دفديې وي دا جائز دي اوکه نه؟

جواب: جائز دي. (۲) فقط

دپل او مسجد جوړولو نذر صحيح نه دي: **سوال**: (۱۱۵) که چيري يو سړي نذر وکړي چه زما زوی جوړ سو نو زه به مسجد جوړوم يا به دمسجد دپاره درۍ اخلم او ورکوم به يې يا به موږ په يوه لاره باندي پل تياروو په خپل مابينځ کي به مولود شريف لولو، بيا يو څو ورځي وروسته دده هلك ته آرام راغی نو پرده باندي نذر واجب دي اوکه نه که چيري دغه شيان يو محتاج اومسکين ته ورکړي دده دذمي نذر ساقط سو اوکه نه؟

جواب: قال فی الدرالمختار ومن نذر نذراً مطلقا او معلقا بشرط وکان من جنسه واجب ای فرض الخ وهو عبادة مقصودة ووجد الشرط المعلق به لزم الناذر الخ کصوم وصلوة وصدقة (۳) الخ وفی الشامی ومن شروطه ان يکون قربة مقصودة فلا يصح النذر بعيادة المريض وتشييع الجنازة ودخول المسجد وبناء الرباطات والمساجد وغير ذالك وان کانت قربا الا انها غير مقصودة، نومعلومه سوه چه په وصيت مسئوله کي نذر نه لازميږي دصدقې په نذر کي تصدق لازميږي هغه مالدارو ته ورکول درست نه دي فقيرانو ته يې ورکول په کار دي. (۴) فقط

دنذر په حيوان کي دقربانۍ شرطونه ضروري دي: **سوال**: (۱۱۶) غوا او بيزه که چيري نذر اوغير معين وي نو ددوي په سن کي دقربانۍ شرط واجب دي اوکه نه؟

جواب: دغوئي او بيزی په منذوری کي دسن دقربانۍ لحاظ ضروري معلوميږي اوپه احوط کيدو کي خوددي هيڅ خبره نسته نورتصريح ددې په اړه ترنظرمي نه ده تيره سوي.

---

(۱) الدرالمختار علی هامش ردالمحتار کتاب الصوم فصل فی العوارض المبيحة لعدم الصوم ج۲ ص ۱۲۰. ط. س. ج۲ ص ۴۲۳. کالفطرة قدراً (درمختار) ای التشبية بالفطرة من حيث القدر الخ وکذا هی مثل الفطرة من حيث الجنس وجواز اداء القيمة (ردالمحتار ايضا ج۲ ص۱۲۱. ط. س. ج۲ ص۴۲۴). ظفير

(۲) ولو قال ان برئت من مرضی هذا ذبحت شاة اوعلی شاة اذبحها الخ واتصدق بلحمها فيلزمه لان الصدقة من جنسها فرض (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار مطلب فی احکام النذر ج۲ ص۹۵. ط. س. ج۳ ص۷۳۹). ظفير

(۳) الدرالمختار علی هامش ردالمحتارکتاب الصوم مطلب فی احکام النذر ص۹۱ ج۳. ط. س. ج۳ ص۷۳۴. ظ

(۴) ردالمحتار مطلب فی أحکام النذر ص۹۱ ج۲. ط. س. ج ۳ ص۷۳۵. ظفير

(۱) فقط

که دنذر دپوره کولو څخه مخکې مړ سي نو وارثان به څه کوي؟ سوال: (۱۱۷) زید دیوه میاشت دروژو نیولو نذر وکی شل ورځې پوره سوي وي چه وفات سو اوس دده پرذمه لس روژي باقي پاته سوي ددغه روژو دادا کولو څه صورت دي؟

جواب: که چیري زید څه مال پرېښی وي او دفدیه دادائیګي وصیت یې کړي وي نو دلسو ورځو فدیه دي دزید دمیراث څخه ورکړي نو دابښه ده او امید دي چه دمتوفي دروژو کفاره به ان شاء الله ادا سي. (۲)

دکم حیوان قرباني جائز ده: سوال: (۱۱۸) په نذر کي اختلاف راغی یو دعلماؤ څخه وایي چه نذر دغوا، بیزې او اوښ څخه علاوه دهر هغه حیوان چه په هغه قرباني جائز وي نذر هم منعقد کیږي او دنورو حیواناتو څخه لکه کوتره، چرګ، فاخته وغیره باندي نه منعقد کیږي، اونور علماء وایي چي نذر په مطلق حیوان باندي لکه کوتره اونور منعقد کیږي، دچا قول دشرع په نزد صحیح دي؟

جواب: قال فی الدر المختار ومن نذر نذراً مطلقا او معلقا بشرط وکان من جنسه واجب ای فرض الخ وهو عبادة مقصودة خرج الوضوء وتکفین المیت ووجد الشرط المعلق به لزم الناذر الخ ولم یلزم الناذر ما لیس من جنسه فرض کعیادة المریض وتشییع الجنازة ودخول مسجد الخ لانه لیس من جنسه فرض مقصود الخ (۳) ددي عبارت څخه واضحه ده چه صحیح قول اول دي یعني بغیر دقربانۍ دحیوان څخه نذر نه کیږي. فقط

یو سړي نذر ومنی چه هلک پیدا سي نو دنبي ﷺ دنومونو څخه به نوم کښیږدم څه حکم دي؟ سوال: (۱۱۹) یوسړي دا نذر وکی که چیري زما یو هلك پیدا سو نو دهغه نوم به دنبي ﷺ دنومونو څخه کښیږدم اوس هغه دخپل هلك نوم احمد الله، محمد الله، ایښودي سي اوکه نه؟

جواب: دا نذر منعقد نه سو لهذا ده ته اختیار دي چه کم نوم ایښودل غواړي هغه دي کښیږدي لیکن چه داسي نوم نه وي چه دهغه څخه ممانعت راغلي وي. (۴) فقط

---

(۱) ومصرف الزکوة الخ وهو مصرف ایضا لصدقة الفطر والکفارات والنذر الخ ردالمحتار باب المصرف ص۷۹ ج۲. ط. س. ج۳ ص۳۳۹). ظفیر

(۲) ولو قال لله علی ان اذبح جزوراً واتصدق بلحمه فذبح مکانه سبع شیاة جاز ووجهه لایخفی (درمختار) هو ان السبع تقوم مقامه فی الضحایا والهدایا (ردالمحتارمطلب فی احکام النذر ج۳ ص۹۲، ط. س. ج۳ ص۷۴۰). ظ

(۳) وقضوا لزوما ما قدروا بلا فدیة الخ ولو ماتوا بعد زوال العذر وجبت الوصیة الخ وفدی لزوما عنه ای عن المیت الیه الذی یتصرف فی ماله کالفطرة قدرا (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار فصل فی العوارض المبیحة ج۲ ص۱۲۰. ط. س. ج۳ ص۴۲۳). ظفیر　=

دپتاسو نذر څنګه دي؟ سوال: (۱۲۰) زید وایي چه که چیري الله تعالي موږ ښه کړو نو په مسجد کي به یو سیر پتاسی یا بوره ورکوم دا نذر منعقد کیږي اوکه نه؟

جواب: که چیري غرض دزید دصدقي کولو وي نو پرمسجد والاو باندي نذر صحیح دي او دپتاسې او بورې تعین لازم نه دي نذرکه نه وي سوي بیا هم اداکول یې احوط دي. (۱)

نذر یې ومنی لیکن کار پوره نه سو نو څه به کوي؟ سوال: (۱۲۱) که چیري یو سړي دیو کار دپاره نذر ومني او هغه کار پوره نه سي نو دغه مننه به پوره کوي اوکه نه؟

جواب: چه کله دغه کار وسي نو مننه دي پوره کړي په دي شرط چه دغه مننه ګناه نه وي (که چیري کار پوره نه سو نو دنذر پوره کول لازم نه دي (۲)، ظفیر). فقط

دنذرمصرف څه شی دي؟ سوال: (۱۲۲) یو مریض دا وویل که چیري الله تعالي ماته شفاء راکړه نو دواړه غټ غوایان به في سبیل الله قرباني کوم دشفا کیدو څخه وروسته ددغه صدقي مصرف څوك دي؟ او ددغه مذبوحی دپاره یوم اضحي ضروري ده اوکه نه؟

جواب: دغه حیوان دي ذبح کړي پر فقیرانو باندي دي صدقه کړي او ددغه ذبح کولو دپاره یوم الاضحي کیدل ضروري نه دي. (۳) فقط

دنذر مسنون طریقه څه ده؟ سوال: (۱۲۳) دالله ﷻ دپاره دنذرکولو مسنونه طریقه څه ده؟

جواب: دنذر مشروع طریقه دا ده چه مثلاً که چیري زما فلاني کار وسو یا فلاني بیمار ته شفا وسوه نو زه به دالله تعالي په نوم دومره نقدي روپی ورکوم یا به سرلي ذبح کړم په محتاجو باندي به یې تقسیم کړم یا دومره قدر روژي به نیسم یا دومره رکعته لمونځ به کوم وغیره وغیره، په درمختار کي دي: من نذر نذراً مطلقا او معلقا بشرط وکان من جنسه فرض وهو عبادة مقصودة الخ ووجد الشرط المعلق به لزم الناذر لحدیث من نذر وسمی فعلیه الوفاء باسمی کصوم وصلاة وصدقة الخ (۴). فقط

دبیزې په نذرکي پوره بیزه صدقه کول واجب دي: سوال:(۱۲۴) زید نذروکی چه زما فلاني

---

(۴) ردالمحتار مطلب فی احکام النذر ج۲ ص۹۱ – ۹۲. ط. س. ج۳ ص۷۳۵. ظفیر

(۱) ولم یلزم الناذر ما لیس من جنسها فرض کعیادة المریض وتشییع الجنازة ودخول المسجد لانها لیس من جنسها فرض مقصود (الدر المختار علی هامش ردالمحتار مطلب فی احکام النذر ج۳ ص۹۲. ط. س. ج۳ ص۷۳۲). ظفیر

(۲) قال ان برئت من مرضی هذا ذبحت شاة الخ فلا یصح الا اذا زاد واتصدق بلحمها فیلزمه لان الصدقة من جنسها فرض (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار مطلب فی احکام النذر ج۳ ص۹۵. ط. س. ج۳ ص۷۳۹). ظ

(۳) من نذر نذراً مطلقا او معلقا بشرط ان من جنسها فرض وهو عبادة مقصود ووجد الشرط لزم الناذر (ایضا ج ۳ ص۹۱. ط. س. ج۳ ص۷۳۵). ظفیر

(۴) الدرالمختار علی هامش ردالمحتار مطلب فی احکام النذر ج۳ ص۹۱. ط. س. ج۳ ص۷۳۵. ظفیر

کار وسو نویوه بیزه به صدقه کوم ددي ځخه وروسته دبیزې بچی یې صدقه کی نذر وسو اوکه نه؟

جواب: په دي صورت کي پوره بیزه یا ددي دقیمت صدقه کول واجب دي لهذا چه نذر کوونکي دبیزې دبچي صدقه کړي ده نو هغه دکم قیمت وو، غرض دا چه دبیزې په قیمت سره ددغه بچي قیمت چه څومره قدر کم دي نو په دغه اندازه باندي قیمت او صدقه دي وکړي چه دپوره بیزې دقیمت صد قه وسي، په درمختارکي دي: من نذر نذراً مطلقًا او معلقا بشرط الخ ووجد الشرط المعلق به لزم الناذر لحدیث من نذر وسمی فعلیه الوفاء بما سمی الخ نذر ان یتصدق بعشرة دراهم من الخبز فتصدق بغیره جاز ان ساوی العشرة کتصدق بثمنه ([1]). فقط

نذرونه چه دچا ځخه هیر سول او دنذر روژې به مسلسل نیسي اوکه په تدریج سره: **سوال**: (۱۲۵) دزید پرذمه ډیر نذرونه وه زید ته په دي کي شبه راغله چه زما پرذمه څومره نذرونه دي نوهغه به په کمه طریقه ادا کیږي او زید پنځه ویشت روژي نذر ومنی نو په پرله پسي روژو نیولو سره به نذر ادا سي اوکه په تدریج نیولو سره به هم ادا سي؟

جواب: په غالب ظن به عمل کیدي سي دظن غالب موافق چه څومره روژي او دلمونځونو رکعتونه وغیره دده په خیال کي دي هغه دي پوره کړي په پنځه ویشت روژو نیولو سره چه هر رنګه وي نذر به پوره سي. ([2])

دمنني دقرباني وخت: **سوال**: (۱۲٦\۱) دمنني قرباني په عید الاضحي کي کول په کار دي یاچه کله وغواړي؟

وعده یې وکړه چي دریمه حصه آمدني به خیرات کوم نو آیا په دي باندي عمل ضروري دي؟ **سوال**: (۲) زما بي بي دالله تعالي سره وعده کړي وه چه زه به دخپلي آمدني دریمه حصه خیرات کوم په دي صورت کي دریمه حصه آمدني خیرات کول ضروري دي اوکه څنګه؟ او په دي خیرات سره دخاوند قرض ادا کیدي سي اوکه نه؟ او زما هغه اولاد چه دبلي بي بي دنس ځخه دي هغوئ لره ددغه خیرات ورکول درست دي اوکه نه؟

جواب: دمنني په هغه ورځو کي قرباني کول په کار دي چه دقربانۍ ورځي دي یعني دذي الحجي دلسم تاریخ ځخه تر دوولسم پوري ([3]).

([1]) الدرالمختارعلی هامش ردالمحتار مطلب فی احکام النذر ج۳ ص۹۱ – ۹۲. ط.س. ج۳ ص۷۴۱ – ۷۳۵. ظ

([2]) نذر صوم شهر معین لزمه متتابعا لکن ان افطر في یوما قضاه وحدها (درمختار) ای قضی ذلك الیوم فقط لئلا یقع کل الصوم فی غیر الوقت الخ واما اذا کان الشهر غیر معین فان شاء تابعه وان شاء فرقه الا اذا شرط التابع فیلزمه (ردالمحتار مطلب فی احکام النذر ج۳ ص۹۷. ط. س. ج۲ ص۷۴۱). ظفیر　=

۲: که چیري دغه وعده دنذر په صیغه دنذر وه نوکمه آمدني چه دده سره وي نو دهغه دریمه حصه صدقه کول لازم دي فی الشامی وشرط صحة النذر ان یکون المنذور ملکا للناذر ومضافًا الی السبب کقوله ان اشتریتك فلله علی ان اعتقك (۱) دخاوند آمدني په دي کي داخله نه ده بلکه خاوند چه څه دده په ملك کي وي په هغه کي دریمه حصه صدقه کول لازم به وي او دنذر په پوره کولو سره به هغه ګناهګاره وي اوپه دغه خیرات سره دخاوند قرباني ادا کول جائز نه دي، دبلي بي بي اولاد که چیري بالغ او محتاج وي نو هغوی ته یې ورکول درست دي اوپه کوچني اولاد کي دپلار دغنا اعتبار دي او که چیري دنذر په صیغی سره نه وي نو دوعدي پوره کول ددي لازم نه دي که صدقه وکړي نو بهتره ده اوچه کله طاقت نه وي نو په نه کولو کي ګناه نسته.

کتاب القصاص والحدود

باب اول: قصاص

دقتل کولو او زخمي کولو سره متعلق مسائل او احکام

سوال: (۱) دوو کسانو په خپلو کي مشوره وکړه دیو دریم کس دوهلو او رسوا کولو دپاره، وړی وړی همساګاني یې راواخیستی په لاره کي دکلي څخه تخمینًا دڅلوېښت قدمه په فاصله باندي کښیناستل او وخت دماپښین وو ددوی اراده دقتل نه وه صرف دهغه رسوا کول یې مقصود وه، چه کله په خپلو کي لاس اچونه وسوه څه وهل په دغه کوچني همسا باندي دغه سړي وکړل دهغه دریم کس سره توپنچه وه هغه یې را وایسته نو یو سړي یې قتل کړی آیا دغه مقتول شهید دي اوکه نه؟ حالانکه ګیرچاپیره خلق موجود وه.

جواب: دهدایه عبارت په دي باره کي دا دي: ومن شهر علی رجل سلاحًا لیلاً او نهارًا او شهر علیه عصاً لیلاً فی مصر او نهارًا فی طریق فی غیر مصر فقتله المشهور علیه عمداً فلا شيء علیه لما بیناه وهذا لان السلاح لا یلبث فیحتاج الی دفعه بالقتل (۲) والعصا الصغیرة وان کان یلبث ولکن فی اللیل لا یلحقه الغوث فیضطر الی دفعه بالقتل وکذا فی النهار فی غیر المصر فی الطریق لا یلحقه الغوث فاذا قتله کان دمه هدراً الخ هدایه

---

(۳) قلت وانما تعیین المکان فی نذر الهدی والزمان فی نذر الاضحیة لان کلا من هما اسم لخاص معین فالهدی مایهدی للحرم والاضحیة ما یذبح فی ایامها حتی لو لم یکن کذلك لم یوجد الاسم (ردالمحتار مطلب في احکام النذر ج۳ ص۹۷. ط. س. ج۳ ص۷۴۱). ظفیر

(۱) ردالمحتار مطلب في احکام النذر ج۳ ص۹۷. ط. س. ج۳ ص۷۴۱. ظفیر

(۲) هدایه ما یوجب القصاص وما لا یوجب ج۴ ص۵۲۷. ظفیر

وهکذا فی ردالمحتار (1) په ظاهره ددغه عبارت څخه مطلب دا دی چه مقتول هدر الدم دی لکه څنګه چه دهدايې لفظ: في طريق غير مصر الخ پردي باندي دلالت کوونکي دي او دشر او ضرر دفع واجب ده. فقط

دقاتل سزا: **سوال**: (۲\۱) دکلکټر ميرټ په حکم سره احسان الله بشير خان په ټوپك سره مړ کړی دقاتل څخه به مواخذه وي اوکه نه؟ دحاکم په حکم سره شايد مواخذه نه وي.

(۲) که چيري احسان الله خان توبه وکړي او شپيته روژي متواتر ونيسي او دوه زره اووه سوه څلويښت روپئ دبشيرخان پلار ته ورکړي نو داخروي مواخذی څخه خلاصيدي سي اوکه نه؟

جواب: (۱) په دي وجي سره به قاتل دمواخذی څخه خلاص نه وي، او قصاص يا ديت به شرعًا پرده لازم وي.

(۲) په دې کي قصاص واجبيږي البته که چيري اولياء دمقتول په ديت اخيستو باندي راضي سي نو قصاص ساقطيږي او داخروي مواخذې څخه به خلاص نه وي. (2) فقط

دمسلمان کافر لره زخمي کول: **سوال**: (۳) يو مسلمان يو هندو کافر په ناحق عداوت سره دتوری په ذريعه زخمي کړی اتفاقًا په دغه زخم سره هغه لس ورځي وروسته جهنم ته داخل سو نو اوس پردغه کس باندي قصاص واجب دي اوکه نه؟ که چيري هغه توبه ايستل غواړي نوڅنګه به کوي چونکه په غير اسلام کي دشريعت موافق سزاګاني مقرر نه دي لهذا دده په خلاصولو کي ددروغو ګواهي يا مالي امداد کول جائز دي اوکه نه؟

جواب: چه کم قوم عهد ماتونکي وي او ددوی دطرف څخه هميشه وعده خلافي کيږي او دغه قوم مصداق دآيت: وهم بدأوکم اول مرة (3) وي نو ددوی سره هيڅ معاهده باقي نه پاته کيږي. لهذا په مذکوره صورت کي قصاص واجب نه دي او دده په خلاصولو کوشش کول جائز دي. فقط

دبيده انسان په اړخ اړولو سره کوچنی بچي ترلاندي سي او مړسي نوڅه حکم دي؟ سوال:

(۴) دبيده انسان په اړخ اړولو سره که چيري کوچنی تر لاندي سي اومړ سي نو کفاره پرده لازميږي اوکه نه اوپه پلار، مور او پردي کي به فرق کيږي اوکه نه؟

---

(1) هدايه باب مايوجب القصاص وما لا يوجب ج۳ ص۵۲۸. ظفير

(2) فالعمد ما تعمد ضربه بسلاح اوما اجری مجری السلاح کالمحدد الخ وموجب ذالك الماثم لقوله تعالی: ومن يقتل مومنا متعمدا فجزاءه جهنم الاية الخ والقود لقوله تعالی: کتب عليکم القصاص فی القتلی الخ الا ان يعفوا الاولياء او يصالحون لان الحق لهم الخ (هدايه کتاب الجنايات ج۴ ص۵۵۹). ظفير

(3) سورة توبه: آية ۲۰. ظفير

جواب: په دي کي کفاره واجبه ده او دیت پرعاقله لازم دي: والرابع ما جری مجراه ای مجری الخطاء کنائم انقلب علی رجل فقتله لانه معذور کالمخطئ وموجبه الکفارة والدیة علی العاقل الخ درمختار (۱) اوپه پلار مور وغیره کي یو حکم دي.

__دقصاص بندول چي کله دمقتول وارثان نابالغ وي__: **سوال**: (۵) پرقاتل باندي ثبوت کامل دي چه دهغه حکم قصاص دي لیکن دمقتول وارثان ټول نابالغ دي دقاضي صاحب فتوي ده چه په ورثاؤ کي دي یو کس تر بلوغ پوري انتظار وکړي په بالغ کیدو باندي دهغه خوښه ده که هغه معافي وکړی اوکه قصاص واخلي، مفتي صاحب هم متفق دی، هائي کورټ فیصله کړیده چه په ورثاؤ کي دیوه کس دبلوغ زمانه دري څلور کاله ده تردغه وخته پوري انتظار کول مناسب نه دي لهذا قاتل دي همیشه بند کړل سي. په شامي او عالمګیري کي دوه قولونه ترلاسه کیږي چه سلطان دقصاص ولي دي اوکه نه چه په وارثانو کي دیوه دبلوغ انتظار وکړل سي. لیکن ترجیح یې هیچا ته ونه لیکله په دي صورت کي ستاسو څه رایه ده؟

جواب: په دي باره کي دفقهی په کتابونو کي هم هغه روایات ترستوګو کیږي چه دجناب په نظر کي تیر سوي دي یوه طرفته یې ترجیح نه ده لیکلي البته په احد الورثاؤ کي دبلوغ دانتظار وجه ترجیح ضرور لري ولي چه قاضي او حاکم ته دمعافي اختیار نسته اواحد الورثاؤ ته اختیار سته، ددي وجي دا راجح کول پکار دي، او سیاسي اوتعزیري دهمیشه بندولو وجه دترجیح نه سي کیدي ځکه چه دا حکم دقواعد شرعیه ؤ څخه جلا دی. فقط

__دقتلولو سزا__: **سوال**: (۶) یو سړي دبل چا سره امانت کنښینودی چه کله مالك وغوښتی نو امین ده ته دوکه ورکړه او کور ته یې بوتلی او قتل یې کړی دده مقدمه چلیږي چیف کورټ دپانسی حکم ورکړي دي وارثانو اپیل کړي دي دقاتل دورثاؤ څه حکم دي؟

جواب: په سوال کي دا ظاهره نه سوه چه قتل څنګه واقع سوي دي چه حکم شرعي معلوم سي چه دقصاص دي یا ددیت او بهر حال دفقهی په کتابونو کي دا تصریح ده چه دمقتول اولیاء او وارثان که چیري قاتل معاف کړي نو دا افضل دي ددي څخه وروسته دا دي چه څه مال دي واخلي او صلح دي وکړي: عفو الولی عن القاتل افضل من الصلح والصلح افضل من القصاص الخ درمختار (۲) که دقاتل وارثان دقاتل دقتل کولو کوشش وکړي نو په دي کی دا تفصیل دي که چیري في الواقع دا قتل داسي واقع سوي وي چه په هغه

(۱) الدر المختار علی هامش ردالمحتار کتاب الجنایات ج۵ ص۴۲۹. ط. س. ج ۶ ص۵۳۱. ظفیر
(۲) الدرالمختار علی هامش ردالمحتار کتاب الجنایات ج۵ ص۴۸۴. ط. س. ج۶ ص۵۴۸. ظفیر

کي قصاص نسته نو دسزاءِ موت په سقوط کي کوشش کول ممنوع نه دي او دا هم په درمختارکي تصريح ده: يجوز الشفاعة فی القصاص لا الحد الخ (۱)

دقاتل سره څه معامله وکړل سي: **سوال**: (۷) دزيد په مور او بي بي کي اکثره بي اتفاقي چليده دبي بي بي داتو مياشتو حمل وو دمور په اشارې سره بي بي يې قتل کړه دلاش په ځيرلو باندي بچي سترګي خلاصي کړي او بيا فوراً مړ سو په عدالت کي په ناجائز طريقه طبي شهادتونه داسي قسم تير سول چه زيد لږ خبطي اوشکي وو ليکن ددي خيال يې ونه ساتی او دعدالت سيشن جج دپاليسئ حکم وکی اوپه اپيل کيدو باندي عدالت عاليه هائي کورټ دپانسی سزا برحاله وساتله بيا يې په ګورنمنټ کي دزيد دکم عمری او نوجوانی شك او خبط ښکاره کړی دمعافی درخواست وکړل سو حکم راغی چه دپانسی سزا منسوخ سوه دزيد ملزم دپاره دځلورو کالو سزا کافي ده، لهذا دقيد دسزا دميعاد دتيريدو څخه بغير هغه آزادي پيدا کړه خپل کورته واپس راغی، اوس ددي امر په باره کي پوښتنه کوو چه زيد شرعًا دګناه او قتل څخه بري او پاك صفا سو اوکه نه او دده سره خوراك څيښاك ولاړه اوناسته جائز دي اوکه نه؟ اوپه بله طريقه پاك او صاف او بري کيدي سي اوکه نه؟

جواب: په شامي کي دي: واعلم ان توبة القاتل لا تکون بالاستغفار والندامة فقط بل يتوقف علی ارضاء اولياء المقتول فان کان القتل عمدا لابد ان يمکنهم من القصاص منه فان شاؤا قتلوه وان شاءوا عفوا عنه مجانا فان عفوا عنه کفته التوبة اه (۲) نومعلومه سوه چه دمقتول داولياؤ دمعافي څخه بغير او دتوبي او استغفار کولو څخه بغير قاتل پاك او صفا نه سو بلکه ده ته لازم دي چه دقتل کړل سوي داولياؤ څخه معافي وکړي اوتوبه او استغفار وکړي اميد دي چه هغه به بري او پاك صفا سي. فقط

دويم باب

دزنا احکام (دزنا وغيره سره متعلق شرعي احکام او مسائل)

دزنا الزام دثبوت څخه بغير نه ثابتيږي: **سوال**: (۱) ديو هلك پرزمه زنا عائد کيږي ځکه دغه هلك ديوي انجلۍ سره په يوه کور کي بيده کيدی انجلۍ دسهار په وخت په ژړا ولاړه سوه او وې ويل چه زما سره يې بدکار کول غوښتل ليکن هيڅا پربدکاری ونه ليدی صرف دانجلۍ په مذکوره جمله باندي يقين کوي هلك وايي چه ما هيڅ بدکار نه دي کړي ماخوصرف دلمانځه دپاره لاس وروړی اوولاړول مي نودا تحرير کړئ چه دغه سړي لمونځ

---

(۱) ايضا ج۵ ص۴۸۴. ط. س. ج۲ ص۵۴۹. ظفير

(۲) ردالمحتار کتاب الجنايات ج۵ ص۴۸۴. ط. س. ج۲ ص۵۴۹. ظفير

هم ورکوي دده امامت جائز دی اوکه نه؟

جواب: په دي صورت کي چه کله څه شرعي ثبوت پرزنا باندي نسته (۱) نو بیا صرف دانجلۍ په اقرار سره بل څوك ملزم نه سي کیدي دا اقرار صرف دانجلۍ په حق کي معتبر دي یعني پردي باندي به هغه ټول احکام جاري کیږي چه شرعًا پر زنا باندي مرتب کیدي سي (۲) او دلته انجلۍ هم دزنا اقرار نه دي کړي نو سړی به په دي سره پاك ګڼل کیږي او صرف په دي وجي دده په امامت کي هم څه نقصان نسته البته که چیري په خارجي طور باندي خلقو ته دده دفسق حال معلوم وي نو په ده پسي لمونځ مکروه کیږي ددي څخه دي توبه وکړل سي.

صرف دزناکار په اقر ارسره زنا ثابتیږي: **سوال**: (۲) یو سړي زناکار اقرار کوي چه زه پریوه ښځه باندي سپور سوم او وطي مي کړه بیا یوڅو میاشتي وروسته په ځنګل کي همدغه دواړه فاعل او مفعوله په زنا کولو باندي ولیدل سوه خلقو قرآن ورکړی دده څخه یې په زنا باندي حلف واخیستی ده کال، میاشت، تاریخ دزنا وخت، دزنا ځای او کالمیل فی المکحله دداخلولو اقرار وکی لیکن پرزنا باندي څلور ګواهان پیدا نه سوه دده څه حکم دي او دداسي سړي سره خوراك څیښاك جائز دي اوکه نه؟

جواب: په دي صورت کي چونکه دغه مذکور سړي په زنا اقرار کړي دي نو په دې قاعده چه المرء یوخذ باقراره دده په حق کي ددي اعتبار به کیدي سي (۳) یعني چه کم احکام چه دشرعي شهادت موجودیدو په صورت کي پرده باندي عائد کیږي هغه به اوس هم عائد کیږي البته دا ضرور دي چه صرف دده په حق کي بم معتبر وي پرنورو باندي ددې هیڅ اثر نه پریوزي: فی الهدایه وانه ملزم لوقوع دلالته الا تری کیف الزم رسول الله ﷺ ماعزاً باقراره وتلد المرأة باعترافها الخ وهو حجة قاصرة لقصور ولایة المقر عن غیره فیقصر علیه الخ هدایه ربع ثالث (۴) نوپه صورت مسئوله کي چه ترڅو پوري ګناهګار توبه او استغفار ونه کړي نو دده سره هیڅ قسم تعلقات نه دي ساتل په کار دلته په هندوستان کي حدود شرعیه نه قائمیږي ددي وجي اوس ددې څخه ماسوا بله هیڅ چاره نسته. (۵) فقط

---

(۱) ولا تقبل الشهادة علی الزنا الا شهادة اربعة احرار المسلمین کذا فی شرح الطحاوی (عالمگیری مصری باب خامس ج۲ ص۱۵۱. ط. ماجدیه ج۲ ص۱۵۱). ظفیر

(۲) ویثبت الزنا باقراره (ایضا باب ثانی ج۲ ص۱۴۳). ظفیر

(۳) ویثبت الزنا باقراره (عالمگیری مصری باب ثانی ج۲ ص۱۴۳. ط. ماجدیه ج۱ ص۱۴۳). ظفیر

(۴) هدایه کتاب الحدود فصل فی الزنا ج۳. ظفیر =

دمنکوحي سره زنا حق الله او حق العباد دواړه تلف کول دي: **سوال**: (۳) دنکاح سوي زنانه سره زناکول حق العباد دي اوکه نه؟ دښځي دخاوند زناکار څخه څه مواخذه ستنه اوکه نه؟

جواب: دمنکوحي ښځي سره زنا کول حق الله هم دي او حق العباد هم په حديث شريف کي راغلي دي دکبائرو په بيان کي دي قال ان تزنی حليلة جارك، پردي باندي محشي ليکي لانه زنا وابطال حق الجوار والخيانة معه فيکون أقبح (۱). فقط

دزنا کاري سزا: **سوال**: (۴) يوه ښځه زناکاره ده او حامله ده اوس اسلامي حد په هيڅ طريقه نه جاري کيږي نو ديته څه سزا ورکول په کار دي اوڅه معامله ورسره وکړل سي؟

جواب: توبه دي ورباندي وباسي او نصيحت دي ورته وکړي. (۲)

په هندوستان کي دحد اجراء: **سوال**: (۵) که چيري دغه زنانه دوضع حمل څخه وروسته په پټه طريقه قتل کړل سي نو قاتل به شرعًا مجرم وي اوکه نه؟

جواب: دا جائز نه دي. (۳)

دزناکار سره دزناکاري نکاح: **سوال**: (۶) که چيري ددغه زنانه په جائز طريقې سره نکاح وکړل سي نو څنګه دي؟

جواب: نکاح کول ښه دي په دي کي آئنده دفتنی بنديز دي. (۴)

زنا زياته قبيحه ده اوکه سود؟ **سوال**: (۷) په زنا اوسود کي څه نسبت دي زيات قبح په څه کي دی؟

جواب: دواړه ګناهونه کبيره دي البته سود دزنا څخه بلکه شپږ ديرش درجی دزنا څخه اشد په حديث کي فرمايل سوي دي. (۵) فقط

په دار الحرب کي به پر زناکار باندي څه حد وي؟ **سوال**: (۸) پر زناکار باندي څه شرعي حد په دي زمانه کي لګول کيدي سي اوکه نه؟ او دزناکار دحمل په موده کي که چيري ددې سره نکاح وکړي نو کيدي سي اوکه نه؟

جواب: هيڅ په دي زمانه کي نه سي جاري کيدي او دغه حمل برابره خبره ده که دزيد وي

(۵) لانه لاحد فی دارالحرب (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار کتاب الحدود ج۳ ص۱۹۵. ط. س. ج۴ ص۵.

(۱) وګوری: مشکوة باب الکبائر مع الحواشی ص۱۷. ظفير

(۲) لانه لا حد فی دارالحرب (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار کتاب الحدود ج۳ ص ۱۹۵. ط. س. ج۴ ص۵). ظفير

(۳) ځکه چه دا دار الاسلام نه دی ددارالحرب په حکم کي دي لانه لاحد في دارالحرب (ايضا). ظفير

(۴) قال النبی ﷺ يا معشر الشباب من استطاع منکم الباءة فليتزوج فانه اغض للبصرواحصن للفرج متفق عليه (مشکوة کتاب النکاح ص۲۶۷). ظفير

(۵) قال الله تعالی: لا تقربوا الزنا انه کان فاحشة وساء سبيلاً (بنی اسرائيل : ۴۰). ظفير

او که نه (۱) که چیري زید ددي سره نکاح وکړي نو په داسي حالت کي په حمل کي هم نکاح کیدي سي.
په زنا باندي څه سزا باید ورکړل سي: **سوال**: (۹) یو سړي دخپلي حقیقي خورزې سره زنا وکړه دجرګې په وړاندي دغه انجلۍ بیان وکی چه په دي وجه باندي خاندان والاوو دي جلا کی پرده باندي شرعًا څه حکم لګیدي سي؟
جواب: چه کله غالب ګمان داسي دي چي دغه سړي په زنا متهم دي اګر چه په شرعي طور سره دزنا ثبوت نسته ځکه چه دزنا ثبوت شرعًا دڅلورو عادلانو ګواهانو په سترګو لیدلي شهادت سره کیږي (۲) ده ته دومره تنبییه کافي ده چه دي دصلاح او توبي دظهور سره دخاندان څخه خارج کړل سي ځکه چه حد شرعًا په دي زمانه کي دحکومت اسلامي دنیستوالي په وجه نه جاري کیږي. فقط
دلور سره زنا کول: **سوال**: (۱۰) یو سړي دخپلي لورسره زنا وکړه دده دپاره شرعًا څه حکم دي اوڅه سزا ده؟
جواب: دا انجلۍ دمحرمات ابدیه څخه ده اول خو زنا دهري زنانه سره قطعي حرامه ده چه ددي حلال ګڼونکي کافر دي (۳) بیا دخپلي لور سره زنا کول په هره طریقه موجب دمعصیت او ددواړو جهانونو ملامتي ده او ډیره مختورونکي خبره ده دداسي سړي مخ تورول پکار دي او دخاندان چه څه سزا وي ده ته یې ورکول په کار دي شرعي سزا اوحد خو په دي زمانه کي دحکومت غیر اسلامي په وجه نه سي جاري کیدي. (۴) فقط
بي نکاح ښځه ساتل: **سوال**: (۱۱) دبي نکاح زنانه ساتلو والا دپاره څه حکم دي؟
جواب: دغه سړی دزنا کاری مرتکب دي او فاسق دی. (۵) فقط
په دار الحرب کي دزناکار سزا: **سوال**: (۱۲) په دي زمانه کي به زناکار ته څه سزا ورکول کیږي؟
جواب: دفقه دکتابونو څخه معلومیږي چه حدود په دار الاسـلام کي جاري کیږي، په دار

---

(۱) لانه لاحد فی دارالحرب (الدر المختار علی هامش ردالمحتار کتاب الحدود ج۳ ص۱۹۵. ط. س. ج۴ ص۵).
(۲) ولاتقبل الشهادة الا شهادة اربعة احرار مسلمین (عالمگیری مصری باب خامس ج۲ ص۱۵۱ ط. ماجدیه ج۱ ص۱۵۱). ظفیر
(۳) ان من استعمل ماحرمه الله تعالی علی وجه الظن لایکفر وانما یکفر اذا اعتقد الحرام حلالا الخ قوله ظانا الحل اما لو اعتقده یکفر کمامر (ردالمحتار کتاب الحدود مطلب اذا استحل المحرم ج۳ ص۲۱۳. ط. س. ج۴ ص۲۴). ظفیر
(۴) لانه لاحد فی دارالحرب (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار کتاب الحدود ج۳ ص ۱۹۵. ط. س. ج۴ ص۵).
(۵) قال رسول الله ﷺ لایزنی الزانی حین یزنی وهو مومن (مشکوة باب الکبائر ص۱۷). ظفیر

الحرب كي حدود نه سي قائميدي كما فى الدر المختار فى دارالاسلام لانه لا حد بالزنا فى دار الحرب الخ وفى الشامى لاحد بالزنا فى دارالحرب (۱) الخ نو معلومه سوه چه په هندوستان كي حد دزنا نه سي قائميدي اوكله چه داسلام بادشاه موجود نه دي نو دقانون شرعي جاري كيدو هيڅ صورت نسته اوپه شريعت اسلاميه كي درجم په عوض كي بله هيڅ سزا ټاكل سوي نه ده اوپه تعزير كي هيڅ تحديد او تعين نسته، دحاكم پررايه باندي موقوف دی. فقط

دمحارمو سره دنکاح حلال ګڼلو سزا: سوال: (۱۳) دمحارمو سره په نكاح كولو او حلال ګڼلو او صحبت كولو سره حد راځي اوكه نه؟

جواب: اصل دا دي چه دامام صاحب په نزد حدود په شبه سره هم ساقطيږي، په نفس نكاح سره حرمت مشتبه كيږي ددي وجي حد ساقط دي البته ددي مرتكب ته به سخت تعزير وركول كيږي (۲) امام طحاوي رحمه الله دا مسئله مدلله بيان كړيده وخالفهم آخرون فى ذالك فقالوا لا يجب فى هذا حد الزنا ولكن يجب فيه التعزير والعقوبة البليغة وممن قال بذالك ابوحنيفة وسفيان الثورى الخ شرح معانى الاثار جلد ثانى باب التزوج بالمحارم (۳). فقط

دزناكار سره تعلق ساتل څنګه دي؟ سوال: (۱۴) ديو مولوي صاحب داكا دزوى خورزه دخپل خدمتګار سره چه ددې سره دكوچنيوالي څخه اوسيږي ناجائز تعلق لري دمولوي صاحب ددغه خدمتګار سره دوستي ده په دغه مكروه عمل سره مولوي صاحب لږ هم خفه نه دي بلكه ددغه خدمتګار سره يې ښه په روڼ تندي دوستي قائمه ده، په دي صورت كي دمولوي صاحب دپاره څه حكم دي؟

جواب: كه چيري دغه مولوي صاحب ته علم وي چه دغه خدمتګار زنا كار دي او دمولوي صاحب داكا دزوى دخورزې سره يې ناجائز تعلق دي او په شهادت شرعيه سره زنا او ناجائز تعلق ثابت وي او بيا هم مولوي صاحب دطاقت باوجود دغه خدمتګار ددغه شنيع عمل څخه بند نه كړي نو بې شكه ګناهګار به وي ده لره توبه ايستل په كار دي او امر

---

(۱) ردالمحتار كتاب الحدود ج۳ ص۱۹۵. ط. س. ج۴ ص۵). ظفير

(۲) لايحد ولايعزر (درمختار) قوله الحل اما لو اعتقده يكفر كمامر قوله يعزر اى اجماعا وفى الفتح لم يجب عليه الحد عند ابى حنيفة وسفيان الثورى وزفر وان قال علمت انها حرام علي ولكن يجب الحد ويعاقب عقوبة هو اشد مايكون من التعزير سياسة لا حدا مقدرا شرعا اذا كان عالماً بذلك (ردالمحتار كتاب الحدود ج۳ ص۲۱۲ - ۲۱۳. ط. س. ج۴ ص۲۴). ظفير

(۳) شرح معانى الاثار باب التزوج بالمحارم. ظفير

بالمعروف او نهي عن المنكر چه خاص ددي امت شعار او دفخر سبب دي ضروري گڼل او پر هغه پابند کيدل پکار دي، البته پرنورو مسلمانانو باندي هم دا لازم دي چي دځلورو کسانو څخه علاوه دسترگو په ليدلو پريوه زنانه يا نارينه تهمت ونه لگوي، کنه نوبيا به هغه ماخوذ وي اوکه چيري اسلامي حکومت وي نوده ته به حد قذف يعني اتيا کوړي وهل ورکول کيږي ([1]) کما قال الله تعالى: لو لا جاءوا عليه باربعة شهداء فاذ لم ياتوا بالشهداء فاولئك عند الله هم الكاذبون ([2]). فقط

دخورسره دزنا کوونکي سزا: **سوال**: (۱۵) يو سړي دخپلي حقيقي خور سره زنا کوله چه عبد الغني په خپلو سترگو وليدل او دوی يې ورټل چه دا اواز دوو نورو کسانو واوريده اوصبا يې دانجلۍ څخه پوښتنه وکړه هغې په مجمع کي اقرار وکی چه ددوه نيمو مياشتو راهيسى داسي کوي دده سره دخاندان څه رويه پکار ده؟

جواب: ديو سړي په گواهئ سره شرعًا زنا نه ثابتيږي ([3]) او دزنانه اقرار دسړي په حق کي معتبر نه دي ددي وجي شرعي هيڅ حد پردي باندي نه لگيږي البته چه کله شبه سوه او تهمت ولگيدی نو دواړه دي جلا وساتل سي. او يوځای دي نه اوسوي. ([4]) فقط

منکوحه بل ته حواله کول: **سوال**: (۱۶) الله دتا نومي درزي دخپله لور نابالغه فضل بيگم عقد دمسمي حسين سره وکی او رخصتي پردويم وخت باندي ملتوي کړل سوه اوس راجه علي، علي شان خان نمبردار څه پيسى په رشوت ورکړي بغير دعقد شرعي څخه يې انجلۍ په ډولی کي کښينوله خپل درزي مسمي فضل ته يې حواله کړه آيا دفضل او فضل بيگم دخاوند اوښځي په شان بغير دعقدشرعي څه تعلقات ساتل جائز دي اوکه نه؟

ددي سزا: **سوال**: (۱۷) دعلي شان داسي کول دتعزير موجب دي اوکه نه؟

دزناکار سره تعلق: **سوال**: (۱۸) دعلي شان رشته دارانو ته دده سره دتعلق پريکولو په باره کي څه حکم دي؟

([1]) لاتقبل الشهادة على الزنا الا شهادة اربعة احرار مسلمين ان شهد على الزنا اقل من اربعة بان شهد واحد او اثنان او ثلاثة لاتقبل الشهادة ويحد الشاهد حد القذف (عالمگيرى مصرى باب خامس ج۲ ص۱۵۱ - ۱۵۲ ط. ماجديه ج۱ ص۱۵۱). ظفير

([2]) سورة النور : آية: ۲۴. ظفير

([3]) لاتقبل الشهادة على الزنا الا شهادة اربعة احرار مسلمين ان شهد على الزنا اقل من اربعة بان شهد واحد او اثنان او ثلاثة لاتقبل الشهادة ويحد الشاهد حد القذف (عالمگيرى مصرى باب خامس ج۲ ص۱۵۱). ظفير

([4]) عن النبى ﷺ لا يخلون رجل بامرأة الا كان ثالثهما الشيطان رواه الترمذى (مشكوة باب بيان العورات ص۲۲۹) والمعنى يكون الشيطان معهما ويهيج شهوة كل منهما حتى يلقيهما فى الزنا (حاشية مشكوة عن المرقاة ص۲۲۹). ظفير

(۴) دنابالغی منکوحی دپلار په ایجاب او دناکح دپلار په قبول کولو سره نکاح شرعي منعقد کیږي اوکه نه؟

جواب: ۱: چه کله دفضل النساء نابالغی نکاح په شرعي طور باندي ددي پلار کړي وه نو دغه نکاح هم دغه وخت لازمه او نافذه سوي وه اوس نه دمسمات بل ځای نکاح کیدی سي او نه چاته ددي اختیار سته (۱) چه په ناجائزه طریقه باندي دا یوچا اجنبي ته حواله کړي لهذا دفضل او فضل النساء ترمینځ دي فوراً جدائي وکړل سي که چیري هغه ددي دپاره تیار نه وي نو دده سره دي تمام مسلمانان تعلق پریکړي، قال الله تعالي: فلا تقعد بعد الذکري مع القوم الظلمین. (۲)

۲: بي شکه علي شان دسختی گناه کبیره ارتکاب کړي دي مسلمانانو ته ددوی سره تعلق او رابطه ساتل جائز نه دي او دده په حق کي هم دا تعزیر دي.

۳: که چیري علي شان توبه وباسي او منکوحه خپل خاوند ته ونه رسوي نه تمام خاندان ته په کار دي چه دده سره هیڅ تعلق ونه ساتي ځکه چه په حقیقت کي ددغه حرامو دارتکاب همدغه سړي باعث سوي دي.

۴: دزوجینو دعدم بلوغ په صورت کي ددوی پلارته ددوی دنکاح په کلي طور باندي اختیار حاصل دي، نو په صورت مسئوله کي که چیري هلك هم نابالغ وو نو دده پلارته هم کلي اختیار حاصل وو اوکه چیري بالغ وو او پلار دده په اجازت او رضا سره نکاح کړي وه یا دنکاح څخه وروسته ده رضامندي ظاهره کړه نو بیا هم نکاح نافذه او صحیح سوه اوس ترهغه وخته پوري چه خاوند یې طلاقه نه کړي مسماة ته دبلي نکاح اختیار نسته په داسي حالت کي دویمه نکاح باطله او دزنا په حکم کي ده (۳). فقط

زنا دچا سره جائز نه ده: **سوال**: (۱۹) دخورزي سره زنا کول جائز دي اوکه نه او نیکه او انا معاون دي ددي څه سزا کیدي سي؟

جواب: حرام دي او چه څوك په دي کارکي دزناکار او زناکاری مدد وکړي هغه هم فاسق او فاجر دي ددوی تولو سره تعلق پریکول ضروري دي. (۴) فقط

---

(۱) اما نکاح منکوحة الغیر ومعتدته الخ لم یقل احد بجوازه (ردالمحتار باب المحرمات ج۲ ص۴۸۲). ظفیر

(۲) سورة الانعام: ۸. ظفیر

(۳) اما نکاح منکوحة الغیر ومعتدته الخ فلم یقل احد بجوازه (ردالمحتار ج۲ ص۴۸۲. ط. س. ج۲ ص۵۱۲). ظ

(۴) قال رجل یا رسول الله ای الذنب اکبر عندالله قال ان تدعو الله نداءًا وهو خلقك قال ثم ای قال ان تقتل ولدك خشیة ان یطعم معك قال ثم اي قال ان تزنی حلیلة جارك فانزل الله تصدیقها: والذین لا یدعون مع الله الها اخر ولا یقتلون النفس التی حرم الله الا بالحق ولا یزنون الایة، متفق علیه، (مشکوة باب الکبائر ص۱۲) ارشاد ربانی دی تعاونوا علی البر والتقوی ولا تعاونوا علی الاثم والعدوان (المائده: آیة ۱۰). ظفیر

په زنا کي دڅلورو ګواهانو وجه: **سوال**: (۲۰) چه کله دجرم په ثبوت کي ددوو کسانو پرشهادت باندي مدار دي نو دزنا په ثبوت باندي څلور شهادتونه ولي ضروري دي؟

جواب: زنا چونکه سخت اوسنګين جرم دي او ددي سزا هم ډيره سخته او شديد ده يعني دزناکار محسن سزا سنګسار دي اودغير محسن سل کوړې دي، لهذا حکمت دالله تعالي ددي مقتضي سو چه ددې په شهادت کي هم څه شدت وساتل سي چه دمومنانو تر مينځ دفاحشي په اشاعت کي کموالی وسي. ([1]) فقط

دسړي او ښځي په يوه بستره باندي بيده کيدل دزنا دثبوت دپاره کافي نه ده: **سوال**: (۲۱) يو سړی او يوه ښځه ځوان عمر والا په خپلوکي پريوه کټ باندي پراته او همکنار وليدل سول شاهد داول څخه تر اخره پوري دوی په حالت مذکوره باندي وليدل ليکن هيڅ حرکت جماعي يې ونه ليدی په دي حالت کي زنا ثابتيږي اوکه نه؟

جواب: دداسي حالت په ليدو سره دزنا ثبوت نه راځي اګرچه دا عمل هم حرام دی. ([2])

په دي صورت کي زنا ثابته نه ده: **سوال**: (۲۲) په دي صورت کي پرفريقينو باندي دزنا ثبوت او دزنا حد قائميدي سي اوکه نه؟

جواب: په دي صورت کي زنا ثابته نه ده او نه دزنا حد ثابت دي. ([3])

ددوو کسانو په شاهدۍ سره زنا نه ثابتيږي: **سوال**: (۲۳) يو سړي دخپلي خوابني سره زنا وکړه ددغه ښځي زوی او خوريي دواړو چه دهغوی عمر پنځلس شپاړس کاله دي په خپلو سترګو دخول کولو باندي وليدل او په مجمع کي يې بيان وکی ددي څخه وروسته دښځي زوی دخپل اقرار څخه رجوع وکړه نو په دي صورت کي زنا ثابته سوه اوکه نه؟

جواب: ددوو کسانو په ګواهي سره زنا نه ثابتيږي نوکه چيري دغه دواړه هلکان عاقل، بالغ او عادل هم وي او ددوی څخه يوه هم دخپل قول څخه رجوع هم ونه کړي بيا هم ددوی په شهادت سره زنا نه ثابتيږي ځکه چه دزنا ثبوت دڅلورو کسانو په ګواهي سره کيږي، ([4]): کما قال الله تعالى لو لاجاءوا عليه باربعة شهداء فاذ لم ياتوا بالشهداء

([1]) يثبت الزنا بشهادة اربعة رجال في مجلس واحد بلفظ الزنا لا مجرد لفظ الوطى والجماع (درمختار) لان لفظ الزنا هو الدال على فعل الحرام الخ (ردالمحتار كتاب الحدود ج۳ ص۱۹۲). ظفير

([2]) ويثبت الزنا عند الحاكم بشهادة اربعة يشهدون عليه بلفظ الزنا لا بلفظ الوطؤ والجماع الخ وقالوا رأيناه ادخل كالميل فى المكحلة (عالمگيري مصرى باب ثانى ج۲ ص۱۴۳). ظفير

([3]) ان تمكنت فيه الشبهة لايجب الحد (عالمگيرى باب رابع ج۲ ص۱۴۷). ظفير

([4]) لا تقبل الشهادة على الزنا الا شهادة اربعة احرار مسلمين وان شهد على الزنا اقل من اربعة بان شهدوا حدا واثنان او ثلثة لاتقبل الشهادة ويحد الشهادة حد القذف (عالمگيرى مصرى ج۲ ص۱۵۱ – ۱۵۲ ط. ماجديه ج۱ ص۱۵۱). ظفير

فاولئك عند الله هم الكاذبون. ([1]) نوچه كله شرعًا ددي گواهي اعتبار نسته نو په دي قصې پسې كيدل نه دي په كار اودفاحشي اشاعت نه دي كول په كار ځكه چه دا سخته گناه ده چه دثبوت شرعي څخه بغير دا خبرى دخولي څخه وايستل سي او مشهوري كړل سي. فقط

دزنا ثبوت: **سوال**: (۲۴) كه چيري دزيد گمان په خپله بي بي باندي وي چه دا زناكاره ده او پټه زنا كوي؟

(۲) كه زيد خپله بي بي په خپلو سترگو په زنا كولو او راتلو باندي ليدلي وي او زاني يې وپيژندى چه دغه عمرو زاني دي چه په پټه طريقه په غير حاضرى كي رابلل كيږي زيد هم دخپلي بي بي سره همبستري كوي دبي بي يې دڅلورو مياشتو حمل دي نو هغه داساتلي سي اوكه نه؟

(۳) كه چيري زيد عمرو دخپل كور څخه په وتلو سره وليدى دشپي په وخت په دي صورت كي زنا ثابته ده اوكه نه؟

جواب: (۱ – ۳) دداسي وهمونو په شريعت كي هيڅ اعتبار نسته اوچه ترڅو پوري څلور دزنا گواهان نه وي زنا نه ثابتيږي ([2]) كما قال الله تعالى: لو لا جاءوا عليه باربعة شهداء فاذ لم ياتوا بالشهداء فاولئك عند الله هم الكاذبون ([3]) نو هغه حمل دزيد دبي بي دي هغه شرعًا دزيد گڼل كيږي او دهغه نسب به دزيد څخه ثابت وي ([4]) او دمذكوره زنانه ساتل دزيد دپاره جائز دي ([5]) اوكه چيري زيد دي ته طلاق وركړي نو طلاق پر واقع كيږي ليكن طلاق وركول واجب نه دي. فقط

دنابالغي سره په زور سره زنا او دهغه سزا: **سوال**: (۲۵) كه چيرى يو سړي په زبردستۍ سره ديوې نابالغه انجلۍ سره زنا وكړي نو آيا دواړه دزنا دسزا لائق دي اوكه نه او څه سزا به وركول كيږي ؟

۲: كه چيري يو سړي دبالغي ښځي سره په زبردستى زنا وكړي نو آيا دواړه به دسزا مستحق وي او پرزنانه به څه كفاره راځي؟

([1]) سورة النور آية : ۲۰. ظفير

([2]) ويثبت الزنا عند الحاكم ظاهرا بشهادة اربعة يشهدون عليه بلفظ الزنا لا بلفظ الوطى والجماع وقالوا رأيناه ادخل كالميل في المكحلة (عالمگيرى مصرى باب ثانى ج۲ ص۱۴۳. ط. ماجديه ج ص۱۵۱). ظفير

([3]) سورة النور ركوع : ۳. ظفير

([4]) الولد للفراش وللعاهر الحجر (مشكوة ص۲۸۷). ظفير

([5]) لايجب على الزوج تطليق الفاجرة ولا عليها تسريح الفاجر الا اذا خاف ان لا يقيما حدود الله فلا باس ان يتفرقا (الدر المختار على هامش ردالمحتار باب المحرمات ج۲ ص۴۰۲. ط. س. ج۳ ص۵۰). ظفير

جواب: (۱- ۲) په دواړو صورتونو کي دي سړي او ښځه توبه او استغفار وکړي ځکه الله تعالي ګناهونه معاف کوونکي دي اوهيڅ حد په دي زمانه کي پردي ملك نه جاري کيږي. (۱) فقط

دزنا ځخه دحامله سوي سره نکاح او دهغې سره وطي: **سوال:** (۲۶) دزنا ځخه دحاملی سره که چيري غير زاني نکاح وکړي نو دوضع دحمل ځخه مخکي په وطي کولو سره پرده باندي حد دشرع قائميږي اوکه نه؟ دلته خو قاضي دشرعی نسته که چيري يو عالم پر زناکار يا زناکاره باندي زجراً دسلو يا دوو سوو ځپليو وغيره وهلو حکم وکړي نو داجائز دي اوکه نه؟

جواب: په دي صورت کي حد شرعي نسته ځکه چه دنکاح په وجه شبه پيدا سوه (۲) په دي صورت کي دشرعي دقاضي ځخه علاوه بل سړي دشرعي حد نه سي قائمولي.

ددريو کسانو په ګواهئ سره زنا نه ثابتيږي: **سوال:** (۲۷) دزيد پربي بي باندي دزنا تهمت ولګول سو دري کسانو ګواهي ورکړه چه موږ په زنا کولو وليدل په دي صورت کي زنا ثابته سوه اوکه نه؟

جواب: دزيد پربي بي باندي په دي صورت کي شرعًا زنا نه ثابتيږي نو دجرګي دطرف ځخه زيد ته هيڅ سزا نه دي ورکول په کار (ان شهد على الزنا اقل من اربعة بان شهد واحد او اثنان او ثلاثة لا تقبل الشهادة (عالمګيری مصري ج۲ ص۱۵۱، ظفير). فقط

دخواښي سره زنا: **سوال:** (۲۸) يو سړی دخپلي خواښي سره زنا وکړه زوم او خواښي دواړو په مجمع عام کي اقرار هم وکی دښار خلقو دوه ملايان راوستل هغوی ددا لاندي سزاګانو فتوي ورکړه چه ځپلی او جارو وغيره دي دزاني په غاړه کي زوړند کړل سي، زناکار دي زناکاري ته مور ووايي او زناکاره دي زناکار ته پلار ووايي زناکار به کور بدلوي او زناکاره به شپيته روژي په شان دکفاری دروژي نيسي دزناکار او زناکاري دخاوند سره دي مواکلت مشاربت او مجالست بند کړل سي آيا دا سزا ورکول ځنګه دي؟

جواب: دزنا حد اول خوپه دي ملك کي جاري کيدي نسي کمافی الدرالمختار والشامی: لانه لاحد بالزنا فی دارالحرب (۳) دويم دا سزاګاني چه چا ټاکلي دي دهغو ځخه هيڅ سزا هم دزنا نه ده دا ددي مجوّز جهالت دي شرعًا دا سزاګاني دزنا نه دي او دګناه ثبوت دځلورو عادلانو په ګواهي سره کيږي يا ځلور ځله دقاضي په مخکی په اقرار کولو سره

---

(۱) لانه لاحد فی دارالحرب (الدرالمختار على هامش ردالمحتار کتاب الحدود ج۳ ص۱۹۵. ط. س. ج۴ ص۵).
(۲) لاجد لشبهة العقد (الدرالمختار على هامش ردالمحتار کتاب الحدود ج۳ ص۲۳. ط. س. ج۴ ص۹). ظفير
(۳) ايضا ج۳ ص۱۹۸. ط. س. ج۴ ص۵. ظفير

چونکه اوس شرعي قاضي هم نسته اونه اقرار په څلورو مجالسو کي وسو لهذا ثبوت دزنا دشرعي قاعدي مطابق نه دي، بهر حال په صورت مسئوله کي نه زنا ثابته ده نه څه حد پردوی قائميدي سي قال فی الدر المختار يثبت ايضًا باقراره الخ اربعا فی مجالسة الاربعة كلما اقره بحيث لا يراه (۱) نوکه چيري په حقيقت کي ددغه سړي څخه زنا سوي وه نوتوبه دي وکړي هم دا ددي کفاره ده او دخوانبي سره دزنا کولو سره دزناکار بي بي پرده باندي هميشه حراميږي په دي صورت کي دي خپله بي بي جلا کړي او دزناکاری دخاوند هيڅ نقصان نسته چه دهغه څخه متارکت وکړل سي او هغه ته سزا ورکړل سي.

دزاني سره سلوک: **سوال**: (۲۹) يو سړي دخپلي خور دلور سره زنا وکړه دده سره خوراك څښاك سلوك جائز دي اوکه نه اوچي کم خلق دده سره دي دهغوي دپاره څه حکم دي؟

جواب: په دغه سړي باندي دي توبه وکړي او تنبيه دي ورکړل سي که چيري هغه توبه ونه کړي نو دده څخه جدائي کول په کار دي اوچه کم خلق دده مددګار دي ګناهګار دي (ځکه چه په دي ملك کي حد نه سي جاري کيدي: لانه لاحد فی دار الحرب، الدر المختار علی هامش ردالمحتار کتاب الحدود ج۳ ص۱۹۵، ظفير). فقط

په سماعي ګواهانو سره زنا نه ثابتيږي: **سوال**: (۳٠) دزيد په باره کي دا ويل کيږي چه دده ناجائز تعلق ديوې ښځي ښځي سره وو څوك دسترګو ليدونکی ګواه نسته بلکه دقول سماعي ګواهان دي په دي صورت کي دزيد دپاره څه سزا ده؟ اوکه چيري يو سړی دسترګو ليدلی شهادت وکړي نو دزيد مذکور دپاره څه سزا ده دداسي ثبوت څخه وروسته آيا بل مسلمان ددوی سره خوراك څښاك کولي سي؟

جواب: صرف په سماعي خبرو سره پرزيد باندي دزنا تهمت لګول شرعًا درست نه دي (۲) او ديوه يا دوو ګواهانو په عيني شهادت سره هم زنا نه ثابتيږي بلکه دزنا دثبوت دپاره دڅلورو عادلانو ګواهانو دسترګو ليدلی شهادت ضروري دی چه دا ګواهي ورکړي چه مونږ عيني فعل مذکور کالميل في المکحلة ليدلی دي، کمابين في کتب الفقه نو دداسي شهادت څخه بغير زنا نه ثابتيږي او زيد زناکار ګڼل او ورته ويل درست نه دي. (۳)

---

(۱) ط. س. ج۴ ص۸. ظفير

(۲) وثبت الزنا عندالحاکم ظاهرا بشهادة اربعة يشهدون عليه بلفظ الزنا لا بلفظ الوطی والجماع الخ وقالو رأيناه ادخل کالميل فی المکحلة (عالمګيری مصری ج۲ ص۱۴۳. ط. ماجديه ج۱ ص۱۴۳). ظفير

(۳) لاتقبل الشهادة علی الزنا الا شهادة اربعة احرار مسلمين ان شهد علی الزنا اقل من اربعة بان شهد واحد او اثنان اوثلاثة لا تقبل الشهادة ويحد الشاهد حد القذف (عالمګيری باب خامس ج۲ ص۱۵۱ – ۱۵۲ ط. ماجديه ج۱ ص۱۵۱). ظفير

دبي بي دمرګ څخه وروسته دخوابني سره زنا اودهغه حکم: **سوال**: (۳۱) زيد دخپلي بي بي دوفات څخه وروسته دخپلي خوابني سره زنا وکړه اوس شرعًا ددغه ګناه څه سزا ده؟

جواب: قال الله تعالى: يا عبادى الذين اسرفوا على انفسهم لا تقنطوا من رحمة الله (۱) نودواړو ته توبه ايستل په کار دي او استغفار کول په کار دي په دي سره به دوی دواړه پاك سي لان التائب من الذنب کمن لا ذنب له (۲) او په دي ملك کي چونکه څه سزا شرعي قائم کيدي نه سي (۳) ددي وجي توبه کافي ده. فقط

ددوو کسانو په ليدلو سره زنا نه ثابتيږي: **سوال**: (۳۲) دزيد دوې بيبياني دي هنده او خالده دواړو زيد اوخالدي هنده په حالت دزنا کي زير وزبر په خپلو سترګو وليدل نو زنا ثابته ده اوکه نه؟ او دطلاق څخه وروسته دمهر دين ورکول لازم دي اوکه نه؟ او زيد ددي سره لعان وکړي او طلاق ورکړي اوکه بغير دلعان څخه؟

جواب: دزيد اودده دبي بي خالدي په بيان سره پرهنده باندي دزنا ثبوت نه کيږي او ددار الاسلام دنيستوالي په وجه لعان به هم نه راځي (۴) او مهر به دطلاق څخه وروسته واجب الاداء وي. (۵) فقط

زنا وکړي او توبه وباسي نو څه حکم دي؟ **سوال**: (۳۳) زيد ديوې بنګی يا چمياری سره زنا وکړه او څه وخت وروسته يې توبه وکړه ايا دتوبي څخه وروسته ده ته څه سزا يا تاوان ورکول پکار دي اوکه نه او جائز دي اوکه نه؟

جواب: چه کله زيد توبه وايسته اوپر دغه قبيح فعل باندي نادم سو او استغفار يې وکی نوګناه دده معاف سوه اوس پر ده باندي دڅه سزا او تنبيه ضرورت نسته په حديث شريف کي دي: التائب من الذنب کمن لا ذنب له. (۶) فقط

زنا بالجبر اودهغي حکم؟ **سوال**: (۳۴) زيد دخپلي مشری خور سره دزنا بالجبر مرتکب سو او دکوچني خور سره يې دزنا بالجبر ګفتګو وکړه اوپه تحقيق سره ددواړو لونړو څخه

---

(۱) سورة الزمر : رکوع : ۶. ظفير

(۲) مشکو ة باب الاستغفار والتوبة. ظفير

(۳) لانه لا حد فى دارالحرب (الدرالمختار على هامش ردالمحتار كتاب الحدود ج۳ ص۱۹۵. ط. س. ج۴ ص۵).

(۴) ان شهد على الزنا اقل من اربعة بان شهد واحد او اثنان او ثلاثة لا تقبل الشهادة ويحد الشاهد حد القذف (عالمگيرى باب خامس ج۲ ص۱۵۱ - ۱۵۲ ط. ماجديه ج۱ ص۱۵۱). ظفير

(۵) فمن قذف بصريح الزنا فى دارالاسلام زوجة الحية بنكاح صحيح الخ العفيفة عن فعل الزنا وتهمة الخ (درمختار) قوله فى دار الاسلام اخرج دارالحرب لانقطاع الولاية (ردالمحتار باب اللعان ج۲ ص۸۰۷. ط. س. ج۳ ص۴۸۴). ظفير

(۶) مشكوة باب الاستغفار والتوبة. ظفير

محققینو ته ثابت سویده او شهرت عامه یې هم سوي دی اګر چه دشرعي څخه مجبور دي لیکن پرېښودل یې هم دشوار دي دغیرت اسلام او شهرت عامه په وجې؟

جواب: شرعًا په دي صورت کي په قاعده شرعیه سره دزنا ثبوت پرسړي باندي نسته اوپه دي ملك کي دحدودو اقامت هم نه سي کیدي نوپه مذکوره سړي باندي دي توبه وایستل سي (1) التائب من الذنب کمن لا ذنب له په حدیث شریف (2) کي وارد دي. فقط

دزنا ثبوت: **سوال**: (۳۵) یوه مسلمانه ښځه دیو نصراني سره اوسیږي دکلي مسلمانان دوه فریقه دي یو فریق وایي چه دا زنانه دنصراني سره پرپلنګ باندي بیدیږي دویم فریق دزنانه دبیان تائید او تصدیق کوي دزنانه بیان دا دي چه زه ددریو کلونو څخه دنصراني سره پریوه پلنګ باندي نه پریوزم آیا دا مسماة دزنا دتهمت څخه بري ده اوکه نه او ددي ګټه حلاله ده اوکه حرامه؟ په څه کار خیرکي یې لګولي سي اوکه نه؟ زنانه وایي چه زه دنصراني دبچیانو په لوبولو او ساتلو باندي نوکره یم دا حلفیه بیان کوي.

جواب: ددي سوال په وجه سره دزنا ثبوت نسته (3) البته مسماة مذکوره ته په کار دي چه ځان دداسي تهمت څخه وساتي (4) او چه کله دملازمت تعلق بیانوي نو آمدني ددي حلاله ده او خوراك ددي جائز دي، البته دنامحرم سره په یوځای کي پرېوتل که چیري ددوو ګواهانو عادلانو او لمونځ ګذارو پرهیزګارانو څخه ثابت وي نو ددغه زنانه فاسقه کیدل ثابت دي په دي سره ددې آمدني او نوکری نه حرامیږي لیکن تنبیه کول او ددي فعل څخه بندول یې ضروري دي. فقط

ددخول نه کیدو په صورت کي زنا نه ثابتیږي: **سوال**: (۳۶) زید دیوه باکره زنانه سره جماع کول وغوښتل لیکن پر زنا باندي قادرنه سو دکم قوتۍ په وجه یا دبل څه وجي څخه یعني دخول ونه سو دا زنا سوه اوکه نه؟

جواب: ددخول نه کید وپه صورت کي زنا نه ثابتیږي او حد هم نه واجبیږي (5) او په ګناه

---

(1) لانه لاحد فی دارالحرب (الدر المختار کتاب الحدود ج۳ ص ۱۹۵. ط. س. ج ۴ ص۵. ظفیر

(2) مشکوۃ باب الاستغفار والتوبه. ظفیر

(3) والزنا الموجب للحد وطی وهو ادخال قدر حشفة من ذکر مکلف ناطق طائع فی قبل مشتهاة خال عن ملکه وشبهة فی دار الاسلام الخ ویثبت بشهادة اربعة رجال فی مجلس واحد (الدرالمختار علي هامش ردالمحتار کتاب الحدود ج۳ ص۱۹۴. ط. س. ج۳ ص۵۰۴). ظفیر

(4) قال النبی ﷺ اتقو واضغانتهم (الجامع الصغیر). ظفیر

(5) هو قضاء الرجل شهوته محرما فی قبل المرأة الخالی عن الملکین وشعبتها شبهة الاشتباه الخ ورکنه التقاء الختانین ومواراة الحشفة لان بذالك یتحقق الایلاج والوطی (عالمگیری مصری الباب الثانی فی الزنا ج۲ ص۱۴۳. ط. ماجدیه ج۱ ص۱۴۳). ظفیر

کیدوکي خو یې هیڅ خبره نسته او دخاوند والا یا غیر خاوند والا زنانه سره زنا کول برابر دي یعني په کبیره گناه کیدو کي دواړه برابر دي او دخاوند والا سره په زنا کولو کي یوه بله گناه هم ده یعني دخاوند دبي حرمتۍ. [1]

دزنا کوونکي سزا: **سوال**: (۳۷) زید دیوه زنانه سره زنا وکړه او حمل وسو زید خپله اقرار کوونکي دي په دي صورت کي دزید دپاره شرعًا څه سزا ده؟

جواب: په دي صورت کي توبه او استغفار کافي دي الله تعالي ته دي توبه وباسي او آئنده دي داسي نه کوي الله تعالي معافي کوونکي دي او غفور رحیم دی، او حدود په دي وخت کي نه جاري کیږي. [2] فقط

ثبوت دزنا او درجم دحکم شرط: **سوال**: (۳۸) دیو سړي پرذمه دزنا ثبوت کله کیدي سي او درجم څه شرطونه دي صرف په بي ځایه تهمت لگولو سره اوکه دگواهانو ضرورت دي؟

جواب: دزنا ثبوت په څلورو گواهانو سره چه کله حالت زنا چشم دید بیان کړي نوکیږي او درجم په شرطونو کي احصان هم دي [3] او دعادلانو گواهانو څخه بغیر صرف په بي ځایه تهمت لگولو سره دزنا ثبوت نه کیږي بلکه پرتهمت لگونکي باندي به حد قذف جاري کیدي سي. او په هندوستان وغیره کي حدود درجم وغیره نه سي کیدي.

دزناکاري په وژلو سره اخروي سزا: **سوال**: (۳۹) زید ته په څه طریقه یقین وسو چه زما فلانۍ محرمي زنا کړي ده زید هغه په یوه طریقه باندي مړه کړه نو زید به په آخرت کي رانیول کیږي اوکه نه؟

جواب: زید به په دي صورت کي په آخرت کي گناهگار وي الله تعالي فرمائي: لو لا جاءوا علیه باربعة شهداء واذ لم یاتوا بالشهداء فاولئك عند الله هم الکاذبون، الایة. [4]

دزنا کاري خور قاتل او دهغه اخروي سزا: **سوال**: (۴۰) زید خپله خور په خپلو سترگو په زنا کولو ولیده یا خور خپله زید ته وویل چه ما زنا کړیده زید خپله خور مړه کړه نو زید به په آخرت کي رانیول کیږي اوکه نه؟

جواب: زید به راونیول سي. [5]

---

[1] ویثبت الزنا باقراره الخ (ایضا ج۲ ص۱۴۳) من زنی فی دار الحرب اوفی دار البغی ثم خرج الینا لایقام علیه احد (عالمگیری باب رابع ج۲ ص۱۴۹ ط. ماجدیه ج۱ ص۱۴۹). ظفیر

[2] ویثبت الزنا عند الحاکم ظاهرا بشهادة اربعة یشهدون علیه بلفظ الزنا لابلفظ الوطؤ والجماع الخ وقالوا رأیناه ادخل کالمیل فی المکحلة الخ ویثبت الزنا باقراره (عالمگیری باب ثانی ج۲ ص۱۴۳. ط. ماجدیه ج۱ ص۱۴۳). ظفیر

[3] فان قال انا محصن او یشهد الشهود علی احصانه (ایضًا) ط. ماجدیه ج۱ ص۱۴۳. ظفیر

[4] سورة النور رکوع : ۲. ظفیر

=

دزنا کاري بې بې وژل څنګه دي؟ سوال: (۴۱) دیو سړي بي بي دخپل خاوند سره په مختلفو مجلسونو کي متعدد وارونه اقرار وکی چه ما زنا کړیده خاوند دشریعت دا مسئله که چیري یو سړي دري ځلي دزنا اقرار وکړي نو شریعت ده ته دوژلو حکم ورکوي خپل مؤیده وګڼله اوخپلي بي بي ته یې زار ورکړل نو هغه مړه سوه اوس شرعًا څه حکم دي که چیري خاوند مجرم وي نو دنجات څه صورت دي؟

جواب: په دي مسئلې دي غلط پوهه سوي دي چه ددري ځلي دزنا اقرار کوونکي وژل په کار دي ([۱]) اوپه دي هم غلط پوهه سوي دي چه حدود او قصاص هر یو سړي جاري کولي سي ([۲]) لهذا په دي زهر ورکولو او وژلو سره دي عاصي او فاسق اومرتکب دګناه کبیره دي اوس علاج ددي ماسوا دتوبي او استغفار څخه او دمرحومي دپاره دمغفرت ددعا او دایصال ثواب څخه څه کیدي سي، الله تعالي دي معاف کړي او مرحومه ته دي ثواب ورکړي چه هغه خوشحاله سي او دخپل مجرم خاوند قصور معاف کړي (که چیري دا جرم په دار اسلام کي خاوند کړي وای نو په قصاص کي به هغه قتلول کیدی ([۳])، ظفیر). فقط

دچا دبي بي سره زنا کول: سوال: (۴۲) دزید دښځي هنده سره عمر زنا وکړه دا ګناه به الله تعالي په خپل رحمت سره وبخښي اوکه دزید څخه به معافي غواړي؟

جواب: په حدیث شریف کي دکبائرو په بیان کي راغلي دي: قال ثم ای قال ان تزنی حلیلة جارك فانزل الله تصدیقها: والذین لا یدعون مع الله الها آخر ولا یقتلون النفس التي حرم الله الا بالحق ولا یزنون، نومعلومه سوه چه زنا دیوي زنانه سره برابره خبره ده که هغه دچا منکوحه وي اوکه نه دکبائرو څخه ده لکه څنګه چه دلایزنون دآیت څخه ظاهریږي، البته دغیر منکوحی او دګاونډي دبي بي سره نور هم زیات قبیح عمل دي، الحاصل توبه ندامت او استغفار دي وکړي الله تعالي معافي کوونکي دي او غفور رحیم دي، دمنکوحی پرخاوند باندي دي نه ښکاره کوي او دده چه څه خیانت سوي دي چه دده

([۵]) فالعمد ما تعمد ضربه بسلاح او ماجری مجری السلاح کالمحدد الخ وموجب لك الماثم لقوله تعالی ومن یقتل مومنا تعمدا فجزاءه جهنم، الایة والقود لقوله تعالی: کتب علیکم القصاص فی القتلی (هدایه کتاب الجنایات ج۴ ص۵۵۹). ظفیر

([۱]) دواده کړي زانی او زانیه شرعي سزا سنګسار کول دی مګر دا په دار الاسلام کي دي، دار الحرب چیري چه دمسلمانانو حکومت نه وی نو هلته سزا جاری نسته. فان قال انا محصن اویشهد الشهود علی احصانه الخ یجب رجمه (عالمګیری ج۲ ص۱۴۳. ط. ماجدیه ج۱ ص۱۴۳). ظفیر

([۲]) سزا خالي سلطان یا دهغه سره مقرر سوی نائب اوقاضی را ایستلی سی خاوند سخت ګناهګار سو: ومن یقتل مومنا متعمدا فجزاءه جهنم الایة (سورة النساء: رکوع : ۱۳). ظفیر

([۳]) وګورئ: مشکوة المصابیح باب الکبائر ص۱۷. ظفیر

دمنكوحي سره يې زنا كړيده او دده بي حرمتي يې كړيده دده ښځه دي په اجمالي طريقى سره معافي وغواړي چه څه خيانت اوبي حرمتي كه ما كړي وي هغه معاف كړه وغيره اوكه په دي كي هم څه دفتنى خطره وي نو دا دي هم نه وايي بلكه الله تعالي ته دي صرف توبه وباسي ولي چه په حقيقت كي زنا دحقوق الله څخه ده، په شرح فقه اكبر كي دي: وفى روضة العلماء الزانى اذا تاب تاب الله عليه الخ ص۱۹۵، وصاحب القنية تاب لم يتب الله عليه حتى يرضى عنه خصمه الخ. فقط

دزناكار خپل پلار لره قتل كول او دهغه حكم: **سوال:** (۴۳) زيد دخپلي خوابنبي سره دزنا مرتكب سو دده پلار بكر مانع سو نو زيد قصداً په ناحقه خپل پلار قتل كړى لهذا زيد په زباني توبه او استغفار سره دخلقو سره راشه درشه كولي سي اوكه يو بل څه صورت دتوبي سته؟

جواب: زيد ته توبه او استغفار هم كول په كار دي او چه كم وارثان دپلار څخه علاوه ددغه قاتل دي چه هغوى ته دقصاص اخيستو حق دي دهغوى څخه دي هم معافي وغواړي (۱) او دمقتول پلار دپاره دي دبخښنى دعا او ايصال ثواب كوي. فقط

دزناكاري څخه بچي پيدا سو دهغه سره معامله: **سوال:** (۴۴) يو سړي داجنبيه ښځي سره زنا وكړه او بچى يې پيدا سو دده دپاره څه حكم دي؟

جواب: دغه سړي چه داسي اعلانيه فعل كوي فاسق او بدكار دي توبه دي وكړي كنه نومسلمانان دي ورسره تعلق پريكړي او دي دي پريږدي اوكه چيري دغه كار اعلانيه نه وي نو بيا هم دتهمت دځان څخه احتراز لازم دي. (۲)

دزنا كفاره سته اوكه نه؟ **سوال:** (۴۵) كه چيري يو سړي دبازاري ښځي سره زنا وكړي او دانگريزي قانون په وجه حد شرعي پرزاني باندي نه سي قائميدي نو دحد پرځاى څه كفاره وركړي چي بري كيدي سي او كفاره څه ده او دمسلمانانو دزناكار سره تعلق ساتل په يو صورت كي جائز دي اوكه نه؟

جواب: ددي گناه كفاره توبه او استغفار اودآئنده دپاره احترازكول دي اوچه كله هغه توبه

---

(۱) قال رسول الله ﷺ وسلم من قتل متعمدا دفع الى اولياء المقتول فان شاءوا قتلوه وان شاءوا اخذوا الدية رواه الترمذي (مشكوة كتاب القصاص ص۳۰۱) كه دارالاسلام واى نو هغه به په قصاص كى قتل كيدى ارشاد ربانى دى: كتب عليكم القصاص فى القتلى الخ. ظفير

(۲) دزاني او زانيه سزا په اسلام كي كه يې واده كړي وي نو سنگسار به كوي اوكه غير واده والا دي نو سل كوړي به يې وهي، ليكن هندوستان ددار الاسلام په حكم كي نه دي په دي وجه سره دلته دا سزا نه جاري كيږي: اذا وجب الحد وكان الزانى محصنا رجمه باحجارة حتى يموت الخ وان كان غير محصن فحده مائة جلدة ان كان حرا (عالمگيرى مصرى باب ثالث ج۲ ص ۱۴۵ - ۱۴۲ ط. ماجديه ج۱ ص۱۴۵). ظفير

وباسي نو بيا ورسره تعلقات ساتل روا دي. ([1])

دزنا كولو څخه وروسته توبه كول: **سوال**: (۴۶) كه چيري يو سړی دزنا يا دبلي يوي ګناه مرتكب سو اوبيا په پوره اخلاص سره توبه وباسي نو توبه به دده قبوله سي اوكه نه؟

جواب: توبه به دده قبوله سي. ([2])

دزنا داقرار څخه وروسته دګواهانو ضرورت نسته: **سوال**: (۴۷) كه چيري زاني دزنا اقرار وكړي اوهلك ولد الحرام پيدا سي نو دګواهانو ضرورت سته اوكه نه؟

جواب: دګواهانو ضرورت نسته. ([3])

دزناكار حد: **سوال**: دزاني څه حد دي؟

جواب: حد شرعي په دي وخت كي نه جاري كيږي ([4]) هسي دقوم دطرف څخه چه څه تنبيه ده هغه ده ته وركولي سي او ور دي كړي دي دخاندان څخه خارج ساتلي سي تر دي پوري چه دي توبه وكړي. فقط

دزنا شک کول درست نه دي: **سوال**: (۴۸) زيد يو څو كسان راجمع كړل او بيان يې وكى چه ماته دبكر په نسبت دخپلي بي بي سره دزنا كولو شك دي چه دبكر دمخكي څخه مخالف دي سمعي شهادت دزنا وركوي په دي صورت كي بكر زاني ګڼل څنګه دي او زيد خپله بي بي ددي څخه وروسته دري ورځي دخپل ځان سره وساتله دخلګو په نصيحت سره يې ورڅخه جدائي وكړه نو پرزيد او بي بي باندي څه حكم دي؟

جواب: په دي صورت كي پربكر باندي دزنا الز ام لګول صرف په اوريدو باندي ګناه كبيره ده په دي سره بكر زناكار نه سي مقرر كيدي ([5]) پرده باندي ددروغو تهمت لګولو والا عاصي او فاسق دي زيد هم عاصي او فاسق دي توبه دي وكړي او دزيد پر بي بي باندي هم دا الزام ثابت نه دي، نوكه چيري زيد دې ته طلاق ورنه كړی نو ددستور موافق

([1]) په هندوستان كي حدود شرعي جاري كيدي نه سي په دي وجه دتوبه او استغفار څخه علاوه يوصورت يې هم نسته. ظفير

([2]) حديث نبوی دی التائب من الذنب كمن لاذنب له (مشكوة ص۲۰۲) عن عائشة قالت قال رسول الله ﷺ ان العبد اذا اعترف ثم تاب تاب الله عليه متفق عليه (مشكوة باب الاستغفار والتوبة ص۲۰۳). ظفير

([3]) ويثبت الزنا باقراره (عالمگيری مصری باب ثانی ج۲ ص۱۴۳ ط. ماجديه ج۱ ص۴۳۱). ظفير

([4]) چونكه دلته اسلامي حكومت نسته دحدودو داجراء دپاره دار الاسلام لازم دی فی دار الاسلام لانه لاحد في دار الحرب (الدر المختار على هامش ردالمحتار كتاب الحدود ج۳ ص۱۹۵. ط. س. ج۴ ص۵). ظفير

([5]) ويثبت الزنا عندالحاكم ظاهرا بشهادة اربعة يشهدون عليه بلفظ الزنا الخ وقالوا رايناه ادخل كالميل فی المكحلة (عالمگيری مصری ج۲ ص۴۳) بان شهد على الزنا اقل من اربعة بان شهد احد اواثنان او ثلاثة لاتقبل الشهادة ويحد الشاهد حد القذف عند علمائنا (عالمگيری مصري باب خامس ج۲ ص۱۵۱ - ۱۵۳ ط. ماجديه ج۱ ص۱۵۱). ظفير

دزيد بې بې ده دي وساتي. فقط

دريم باب: سرقه

دغله وغيره سره متعلق احكام اومسائل

یو سړي دبل چا یو شي غلا کی دریم ته یې ورکړي چه دهغه څخه هغه شي هلاک سو تاوان پرچا دي؟ سوال: (۱) زيد دعمر په وينا سره دچا يو شي پټ كړی او بكر ته يې وركی او دبكر څخه هلاك سو ددغه شي ذمه وار به څوك وي؟

جواب: ددغه شي ذمه دار به بكر وي او دبكر به غل يعني زيد ته رجوع وي: كما فى الدر المختار وفيه لو استهلكه المشترى منه او الموهوب له فللمالك تضينه وفى ردالمحتار المعروف بالشامى قوله فللمالك تضمينه اى تضمين المشترى او الموهوب له ثم يرجع المشترى على السارق بالثمن لا بالقيمة تاتارخانيه عن المحيط وفيها عن شرح الطحاوى لو قطع ثم استهلكه غيره كان للمسروق منه ان يضمنه قيمته الخ شامى ج۳ ص۲۱۰. [1] فقط

په خپله راشينه سوی ځنګل څخه لرګي پټول څنګه دي؟ سوال: (۲) کم ځنګل چه خپله دسركار په ملك كي دي لكه غر وغيره دداسي ځنګل څخه خپله راټوكيد لي لرګي وغيره په غلا سره پريكول درست دي اوكه نه؟

جواب: احتياط په ترك كي دي.

دباغ نګران چه دمالک داجازت څخه بغير کم شی ورکړي هغه جائز نه دي: سوال: (۳) چه كم مالي په سركاري يا داميرانو په باغونو كي اوسيږي كه چيري هغه دخپل طرف څخه چاته څه تركاري يا څه بوټي وركړي نو درست دي اوكه نه؟

جواب: دا جائز نه دي (ځكه چه دي محافظ دي مالك نه دي). فقط

صرف دشبهې په بنياد باندي ضمانت اخيستل درست نه دي: سوال: (۴) دزيد څه روپۍ غلا سوي زيد پرعمرو باندي شبه وكړه او دزيد ظن غالب پرعمرو باندي دي او عمرو انكار كوي او زيد ته دعمرو په قسم باندي اعتبار نسته كه چيري زيد دعمرو څخه روپۍ واخلي نو جائز دي اوكه نه اوزيد ته دحق العباد ګناه به وي اوكه دحق الله اوكه به هيڅ نه وي؟

جواب: دزيد دعمرو څخه ضمانت اخيستل درست نه دي اوكه چيري زيد دخپل ګمان مطابق دعمرو څخه ضمان واخيستی او في الحقيقت عمرو غلا نه وه كړی نو زيد به عند

---

[1] ردالمحتار باب كيفية القطع واثباته ج۳ ص۲۹۱. ط. س. ج۴ ص۱۱۱. ظفير

الله ماخوذ وي او حق العباد به دده پر ذمه وي. (۱)

دغل څخه ضمانت اخيستل: **سوال**: (۵) زيد دخالد بيزه غلا کړه او تلف يې کړه خالد دبيزې قيمت په ګران نرخ سره دزيد څخه واخيستی او هغه يې ددعوې څخه بري سو ليکن سرکار زيد پرې نه ښودی په جيل کې يې واچوی آيا دجيل کيدو په تقدير باندي دمذکوره بيزې قيمت دخالد دپاره شرعًا جائز دي اوکه نه؟

جواب: جائز دي ځکه چه جيل ته تلل شرعي حد نه دي چه دا خيال وکړل سي چه ضمان ساقط کيدل په کار دي، په شامي کي دي: لان انتفاء الضمان انما هو بسبب القطع الخ (۲) الحاصل چونکه دغل څخه لاس نه دي پريکړل سوي چه حد شرعي دي نو دتاوان اخيستل جائز دي. فقط

دقبر دځادرونو غلا کول او دهغه ملکيت: **سوال**: (۶) داولياؤ پرقبرونو باندي دپنجاب په ملك کي عمومًا قيمتي غلافونه وغيره اچول کيږي او دغه قبرونه په بيت مقفل کي وي، که نه وي نوخانقاه دده دمال حفاظت کوي دا مال دوارثانو مملوك دي اوکه نه؟ زيد ددغه قبر څخه چه مقفل محرز دي دومره قدر غلاف په خفيه طريقی سره پورته کړي او وتښتيدی چه دهغه قيمت ترنصاب دسرقه پوري رسيږي نو دا سړي دثبوت څخه وروسته دحد سرقه مستحق دي اوکه نه؟

جواب: مالك ددغه شيانو دغلاف وغيره هغه دي چه چا دغه غلاف وغيره اچولی اواينښودلی دي اوددغه شيانو غلا کول هيچاته جائز نه دي ليکن ددغه شيانو په غلا کولو سره حد سرقه واجب نه سو (۳) لکه څنګه چه په درمختارکي دي: وکذا لو سرقه من بيت فيه قبر او ميت فتاوله بزيارة القبر الخ (۴). فقط

دقبر دغلاف استعمالول جائز ګڼل او ددي تاويل کول: **سوال**: (۷) که چيري زيد عالم په اول صورت کي دقبرونو څخه غلاف وغيره پورته کړی اودهغه استعمالول جائز اوحلال وګڼي اوپه حلت کي دا تاويل پيش کړي چه وارثان داهل قبورو دمال دضائع کولو

---

(۱) السرقة انما تظهر باحد الامرين اما بالبينة اوبالاقرار (عالمگيری مصری کتاب السرقة ج۲ ص۱۷۱. ط. ماجديه ج۱ ص۱۴۱). ظفير

(۲) ردالمحتار باب کيفية القطع ج۳ ص۲۹۱. ط. س. ج۴ ص۱۱۰. ظفير

(۳) ولو سرق من القبر دراهم او دنانير اوشيئا غير الكفن لم يقطع بالاجماع اختلف مشائختا رحمهم الله تعالی فيما اذا كان القبر فی بيت مقفل والاصح انه لا يقطع سواء نبش الكفن او سرق مالا آخر من ذلك البيت وكذا اذا سرق الكفن فی تابوت فی القافلة لا يقطع (عالمگيری مصری کتاب الحدود ج۲ ص ۱۷۸. ط. ماجديه ج۱ ص۱۷۸). ظفير

(۴) الدر المختار علی هامش ردالمحتار کتاب السرقة ج۳ ص۲۷۲. ط. س. ج۴ ص۹۴. ظفير

مرتکب دي لهذا داسي مال په خفيه طرز سره پورته کول او استعمالول يې هر مسلم ته جائز دي؟

جواب: دا تاويل دده غلط دي او غلا کول ددغه شيانو درست نه دي اوهم يې استعمالول درست نه دي. (۱)

دغلا اقرار اودبل دپاره ددې گواهي: **سوال**: (۸) څلورو کسانو په يو ځاى غلا وکړه ددوى څخه دوه کسان پرخپل ځان باندي اقرار کوي او پرباقي ملگرو باندي گواهي ورکوي دا گواهي معتبره ده اوکه نه؟

جواب: داقرار کوونکو اقرار پرخپل نفس باندي معتبر دي اوگواهي دداسي خلقو معتبره نه ده. (۲)

چي دغلا روپۍ په خفيه طريقه سره مالک ته ورسوى نو غل به بري سي: **سوال**: (۹) يو سړي دچا روپۍ غلا کړي ديو څو ورځو څخه وروسته دي پيښمانه سو او خيال يې وکی چه اوس دده روپۍ په څه طريقه ده ته رسول په کار دي که چيري دغه غل دغومره رقم اصل مالك ته په څه طريقه ورسوي او هغه خبر نه وي نودی به بري الذمه وي اوکه نه؟

جواب: په هره طريقه سره هم که چيري روپۍ هغه ته ورسوي نو دمواخذی څخه به بري سي دخبر ورکولو هيڅ ضرورت نسته. (۳)

دغلا په پيسو سره يې تجارت کړي وو نقصان وسو اوس باقي روپۍ واپس کړي اوکه يې پوره ورکړي؟ **سوال**: (۱۰) يو سړي دچا روپۍ پټی کړي اوپه دغه غلا کړل سوي روپيو سره يې تجارت وکی په دي کی ده ته نقصان وسو نو غل به ټولي روپۍ اصلي مالك ته واپس کوي اوکه دنقصان څخه وروسته چه کمي روپۍ پاته سوي دي هغه به ورکوي؟

---

(۱) وبنش بقبور ولو کان القبر فی بيت مقفل فی الاصح او ان الثوب غير الکفن وکذا لو سرقه من بيت فيه قبر اوميت لنا وله زيادة القبر (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار کتاب السرقه ج۳ ص۲۷۲. ط. س. ج۴ ص۹۴) حد نسته ليکن غلا په هرحال غلا ده تعبير يې په غلا سره ځيني کړيدی. ظفير

(۲) السرقة انما تظهر باحدالامرين اما بالبينة او بالاقرار الخ فاقر السارق فالقاضی لا يحتاج السوال عن المسروق (عالمگيری مصری کتاب السرقة ج۲ ص۱۷۱. ط. ماجديه ج۱ ص۱۷۱) او دگواه دپاره دا شرط دی چه هغه به انصاف والا وي ځکه چي دده گواهی دنورو په حق کي نه ده معتبره ځکه چي دغلا دوجي څخه دی دفاسق په حکم کي سو.

(۳) وترو العين لوقائمة وان باعها اووهبها لبقائها علی ملك مالکها (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب کيفية القطع ج۳ ص۲۹۱) ويبرأ بردها ولو بغير علم المالك فی البزازية غصب دراهم من کيسه ثم ردها فيه بلا علمه بری وکذا لو سلمه اليه بجهة اخری کهبة اوايداع اوشراء وکذا لو اطعمه فاکله (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار کتاب الغصب ج۵ ص۵۹۱. ط. س. ج۶ ص۱۸۲). ظفير

جواب: ټولي غلا کړل سوي روپی ورکول په کار دي.

دغلا په روپیو سره نفع وسوه ددي مالک څوک دي: سوال: (۱۱) يو سړي دچا روپی پټي کړي اوپه دغه پټو کړل سوو روپیو باندي يې تجارت وکی او ګټه وسوه نو ددغه منافعو مالك به څوك وي او صدقه کول دنفعی واجب دي اوكه مستحب؟

جواب: دنفع مالك غل دي او صدقه کول ددي مستحب دي واجب نه دي. فقط

دغله په مالک باندې اجمالي معاف کول کافي دي اوکه نه؟ سوال: (۱۲) زيد دبکر په مصاحبت کي اوسیدی دبکر يو څو مملوك شيان ئي غلا کړي وه ددغه غلا کړل سوو شيانو څخه څه شيان موجود دي او څه هلاك سوي دي دزيد دا اراده ده چه حق العبد وبخښل سي او دا بوج دده پر سټ باندي پاته نه سي په دي باندي که چيري زيد په ښکاره طورسره بکر ته دخپل کار او دغلا کړل سوو شيانو تفصيل وکړي او معافي وغواړي نو دبي اعتباری سبب او دزيد سخته شرمندګی ده آيا که چيري زيد بکر ته دا ووايي چه ته ماته في سبيل الله ټول حقونه خپل ښکاره او پټ چه ستا پرما باندي دي يا ستا يوشي مابي اجازته پورته کړي وي نو معاف يې کړه اوبکر هم راضي سي نو په دي اجمال سره دغلا ګناه معاف کيږي او که نه او دغه وخت چه دغلا کړل سوو شيانو څخه چه کم دزيد سره موجود دي هغه پرده باندي حلاليږي اوکه نه؟

جواب: دزيد پرذمه ضروري ده چه کم غلا کړل سوي شيان دبکر دده سره موجود دي هغه بکرته واپس کړي اوچه کم هلاك سول هغه په معاف کړي يا تاوان ورکړي باقي په مجملي طريقی سره معاف کول چه په سوال کي مذکور دي په هغه کي تفصيل دي په شرح فقه اکبر کي دي: ثم هل يکفيه ان يقول علی دين فاجعلنی فی حل ام لابد ان يعين مقداره ففی النوازل رجل له علی آخر دين وهو لا يعلم بجميع ذالك فقال له المديون ابرنی مما لك علیّ فقال الدائن ابرتك قال نصير رضی الله عنه لا يبرأ الا عن مقدار ما يتوهم ای يظن انه عليه وقال محمد بن سلمه يبرأ عن الكل قال الفقيه ابو الليث حكم القضاء ما قاله وحكم الاخرة ما قاله نصير الخ (۱) دامام ابو الليث په تفصيل سره معلومه سوه چه قضاءً ټول حقوق ساقط دي او ديانةً يعني عند الله او په حکم اخروي سره صرف هغه ساقط سول چه دکم دائن ته علم دي او بهر حال چه کم اشياء موجود دي دهغو واپس کول ضروري دي اوپه صفا طريقه سره يې هبه کول لازم دي چه فلان فلان شيان ستا زما سره موجود دي هغه ماته هبه کړه ځکه چه کم تفصيل لوړ مذکور دي هغه

(۱) شرح فقه اکبر. ظفير

په دیونوکي دي نه په موجوده اعیانو کي. فقط

دنصاب څخه دکم غلا کړل سوي مال په هلاکت باندي ضمان واجب دي: **سوال**: (۱۳) مال مسروقه چه په کم کي قطع دید نسته دهغه په هلاکت او استملاك سره سارق دمال ضامن دي اوکه نه؟ نو اګر چه دګواهانو په اقرارسره ثابت وي او چه کله په دي زمانه کي حَکَم ته دقطع دید حکم نسته نو په داسي صورت کي مال مسروقه چه دقطع دید لائق دي ددي په هلاك یا استهلاك سره سارق دمال ضامن دي اوکه نه؟ دسرقي ثبوت په ګواهانو سره وي اوکه په اقرارسره؟

جواب: شامي په کتاب الغصب کي دصاحب دفتح القدیر څخه نقل کړي دي: قوله وفیه لابن الکمال کلام الخ حاصله ان السرقة داخلة باعتبار اصلها فی الغصب الا ان فیها خصوصیة ادخلتها فی الحدود فلا ینافی دخولها باعتبار اصلها فی الغصب الخ ج۵ ص۱۱۴ [1] شامي وفی کتاب السرقة من الدر المختار وصح رجوعه عن اقراره بها وان ضمن الحال الخ لاقراره علی نفسه قوله لاقراره علی نفسه علة للزوم الحال فی المسئلتین الخ [2] ددي عباراتو څخه واضحه سوه چه مال مسروقه چه په کم کي قطع دید نسته یا په وجه دعدم وجود دشرائطو دقطع دلاس قطع نه سي کیدي نو هلته ضمان په صورت دهلاك او استهلاك کي لازم دي. فقط

دزنانه څخه دغلاپه شبه کي دهغې مال اخیستل درست نه دي: **سوال**: (۱۴) دیوه سړي مور دهغه پر بي بي باندي دا شبه کوي چه دا دکور شیان لوښي وغیره اخلي او خرڅوي یې، بلکه ددغه سړي مور ځو واره خپل زوی ته وښودل چه دا شیان ایستل سوي دي او هلك ته هم یقین راغی چه دا شیان یوڅه لږ ضرور ایستل سوي دي لیکن هیڅا تر ننه پوري ونه لیدل نه دشیانو په را ایستلو باندي اونه په خرڅولو باندي دمذکوره سړي دبي بي څه لږ روپۍ ایښودل سوي وه دغه سړي دخپلي مورپه وینا سره دغه روپۍ په خپله واخیستي ددغه روپو مالك به څوك وي او ددغه زنانه دغلا په باره کي څه حکم دي؟

جواب: دغلا دثبوت دوه صورتونه دي یا دغه زنانه چي خپله اقرار وکړي یا دوه عادلان ګواهان چي دغلا ګواهي ورکړي ددي څخه بغیر دغلا ثبوت نه سي کیدي نوهغه روپۍ چه دزنانه ایښودل سوي دي دخاوند هغو لره پورته کول او ایښودل درست نه دي دغه روپۍ زنانه ته بیرته ورکول پکار دي. فقط

داقرار کولو څخه وروسته دغلا بیا رجوع کول: **سوال**: (۱۵) دغنمو دډیري څخه یو څه غیر

---

[1] ردالمحتار کتاب الغصب ج۵ ص۱۵۲. ط. س. ج۲ ص۱۷۹. ظفیر
[2] ردالمحتار کتاب السرقة ج۳ ص۲۲۹. ط. س. ج۴ ص۸۲. ظفیر

اندازه سوي غنم غلا کړل سول او دغنمو توی سوي داني ديوچا ترکوره پوري ورسيدي نوپر هغه باندي دغلا تهمت ولګول سو او هغه په غلا باندي اقرار وکړی چی بي شکه غنم ما غلا کړي دي ليکن في الحال کم امير او حاکم ته مه واياست ځومره غنم مي چی پټ کړي دي هغومره به تاسو ته درکړم وروسته له څو ورځو څخه غل پرخپله غلا او دده ترکوره پوري ددانو په توئيدو باندي منکر سو، او اوس دمدعي سره دوه ګواهان ددانو په توئيدو باندي او دوه ګواهان پرمدعا عليه يعني غله باندي موجود دي او دغلا په فعل باندي هيڅ ګواه نسته نودهمدغو ګواهانو په ګواهي سره به غلا ثابته سي اوکه نه؟ که چيري ثابته سي بيا اندازه مجهوله ده نو څومره ضمانت پرهغه لازم دي؟

جواب: قال فی الدر المختار وصح رجوعه عن اقراره بها وان ضمن المال (۱) ددي عبارت ددرمختار او پردي باندي شامي چه څه ليکلي دي دهغه څخه ثابتيږي چه داقرار کولو څخه وروسته په رجوع کولو او اقرار کولو سره دلاس قطع کول ساقطيږي ليکن دمال ضمان لازم دي نوچه کم مقدار غل بيان کړي دمقدار دنه معلوميدو په صورت کي دده پرذمه هم هغه دده بيان سوی مقدار لازم دی.

دکفن په قيمت کي غلاکول: **سوال**: (۱۲) يو سړي دکفن څخه قيمت غلا کړي بيا ښکاره سو ددي په نسبت څه حکم دي؟

جواب: هغه قيمت چه ده غلا کړی دی دکفن مالکانو يعني أهل ميت ته چه چا ورلره ورکړي وي وروايس دي کړي يا دهغوی څخه دي معافي وغواړي ددغه ګناه څخه به پاك سي. فقط

څلورم باب: دشرب حد

(دشراب وغيره دڅښلوسزا اودهغي متعلق احکام او مسائل)

دشرابي دسزا ثبوت: **سوال**: (۱) دشارب الخمر دپاره داتيا کوړو حکم دکم حديث څخه مستفاد کيږي دنبي ﷺ په زمانه کي خو دڅپليو او دخرماوو دلښتو سزا ورکړل سوي ده لکه څنګه چه دعبد الله بن جندب رضي الله عنه په حديث کي په صراحت سره موجود دي؟

جواب: دليل ددي کوړو دصحابو داجماع څخه دی، او په فتح القديرکي يې ددې پوره بحث کړي دي او داحاديثو او اثارو څخه يې ثابت کړي دي فليراجع منه. (۲)

---

(۱) الدرالمختار علی هامش ردالمحتار کتاب السرقه ج۳ ص۲۲۹. ط. س. ج۴ ص۸۲. ظفير

(۲) وحد الخمر والسکر فی الحر ثمانون سوطا لاجماع الصحابة يفرق علی بدنه کما فی حد الزنا هدايه لا يجزی ضرب شارب الخمر وکذا غيره ممن وجب عليه الحد بالنعال وان کانوا يضربون فی العهد النبوی بالنعال والعصا والايدی لانعقاد الاجماع من الصحابة رضي الله عنهم ومن بعدهم علی ترکه (حاشيه هدايه ج۳ ص۵۰۸ باب حد =

شرابي ته بايد څه سزا ورکړل سي: **سوال**: (۲) دريوکسانوپه ظاهره شراب څښلي دي ددوی دپاره څه سزا په کار ده؟

جواب: که چيري ددوو عادلانو ګواهانو څخه ديو سړي دشرابو څښل ثابت سي نوپه شريعت کي ددي سزا اتيا کوړې دي [۱] ليکن دا سزا دحکومت اسلامي کيدو په صورت کي داسلام حَکَم يعني قاضي جاري کولي سي او اوس چونکه اسلامي حکومت نسته نو دا حدهم نه سي جاري کيدي [۲] لهذا دغه خلقو به تنبيه ته دخاندان په طريقه سره کيدي سي. يعني اول دي په هغوی توبه وايستل سي اوکه چيري هغوی توبه ونه کړي نو ددوی سره دي برادرانه تعلقات پريکړل سي. فقط

دغيبت او سودخوری سز اګاني: **سوال**: (۳) غيبت، لواطت، سود خوري، شراب څښل، او خُمار دپاره څه حد په شريعت کي مقرر دي اوکه نه؟

جواب: دغيبت کفاره دا ده چه دچا غيبت يې کړی دي دهغه څخه دي معافي وغواړي او توبه دي وباسي او په لواطت کي که چيري دار الاسلام وي نو تعزير دي [۳] اوپه سودخوری کي دسود ورواپس کول او توبه کول هم کفاره ده. فقط

دشرابی سره تعلقات: **سوال**: (۴) يو مسلمان سړي شراب څښي دمسلمانانو دهغه سره سلوك کول څنګه دي؟

جواب: ددا سي سړي سره ليده کاته کول او تعلقات ساتل ورسره درست نه دي. [۴]

دشرابي اودهغه دمددګارانو څه سزا ده: **سوال**: (۵) يو سړي دپينځلسو، شپاړسو کلونو راهيسی شراب چيښي او باوجود دنصيحت نه منع کيږي اخر مسلمانان متفق سول دي يې دمسلمانانو دجماعت څخه خارج کړی شپږ اووه کسان دده طرفداره دي اوس خلق

= الشرب). ظفير

(۱) ولا يثبت الشرب بها ای بالرائحة بل بشهادة رجلين الخ او يثبت باقراره مرة صاحبا ثمانين سوطا للحر وفرق على بدنه كحد الزنا (الدرالمختار على هامش ردالمحتار كتاب الحدود باب حد الشرب ج۳ ص۲۲۲ – ۲۲۷. ط. س. ج۴ ص۷۰) ظفير

(۲) فی دار الاسلام لانه لا حد بالزناء فی دار الحرب (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار کتاب الحدود ج۳ ص۱۹۵. ط. س ج۴ ص۵). ظفير

(۳) ولا يحد بوطؤ بهيمة بل يعزر وتذبح ثم تحرق ويكره الانتفاع بها حية وميتة الخ او بوطؤ دبر وقالا ان فعل بالاجانب حد وان فی عبده او امة او زوجته فلا حد اجماعا بل يعزر الخ وفی الفتح يعزر ويسجن حتی يموت اويتوب (درمختار) قوله اوبوطؤ دبر اعلقه فشمل دبر الصبی والزوجة (ردالمحتار کتاب الحدود مطلب فی وطی الدابة ج۳ ص۲۱۳. ط. س. ج۴ ص۲۲). ظفير

(۴) اتيا کوړې په دارالاسلام کي شرط دي په هندوستان غونډي ملك کي اخلاقي سزا تعلقات ختم کول هم کيدي سي: لانه لاحد فی دار الحرب (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار کتاب الحدود ج۳ ص۱۹۵). ظفير

وايي چه دغه دشپې او ورځې دشرابو څيښونكي معذور او بيمار دي په شرابو نه څيښلو سره بيماريږي تر دي چه مړ به سي. دداسي سړي دپاره شرعًا څه حكم دي؟ او دده دشريكانو څه حكم دي او څه دنقدو پيسو سزا مسلمان وركولي سي اوكه نه؟ او چه كم كسان دده طرفدار دي دهغوی دپاره څه حكم دي؟

جواب: په دي زمانه كي خو شرعي حد نه سي جاري كيدي ([1]) دمسلمانانو هم وظيفه دا ده چه يو مسلمان دغلا يا بدكاری يا شراب خورئ عمل وكړي نو هغه پوه كړي او توبه په وباسي بيا هم كه چيري هغه يې ونه مني نو دی دي پوهه سي چه په دي باندي نيول دي پوهه كولو والا بري الذمه دي او مال جرمانه اخيستل درست نه دي او دا ضرور سته چه مسلمانان دده څخه نفرت وكړي اوپه خوشحالي دده سره نه مخامخ كيږي كه چيري څه فتنه او مجبوري وي نو خير كنه نو بهتره داده چه دده سره قطع تعلق وساتي او چه ترڅو پوري هغه توبه ونه كړي نو دده سره په خوشحالی ليدل اختيار نه كړي باقي مجبوري چه دمصلحت او مناسبت دوخت له وجي وي كوي دي اوخاموش دي وي ددي څخه زيات دمسلمانانو په اختيار كي هيڅ نسته چه خپله ناراضګي ده ته ظاهره كړي اوچه كيدی سي نو قطع تعلق وساتي.

دشرابو او بنګو په استعمال كي فرق سته اوكه نه؟ **سوال**: (۲) دشرابو اوبنګو دڅكونكي حد شرعي يو دي اوكه جدا جدا؟

جواب: حد شرعي خو په دي ملك كي دحكومت اسلامي دنيستوالي په وجه نه سي جاري كيدي هسي دحرمت په حكم كي دواړه برابر دي ([2]) او دواړه فاسق دي توبه دي وكړي.

پنځم باب : دتهمت لګولو حد پريو پاكدامن باندي

(دزنا تهمت لګول او ددي دسزا سره متعلق احكام او مسائل)

آيا دزنا دثبوت دپاره څلور ګواهان ضروري دي: **سوال**: (۱) دزنا دثبوت دپاره دڅلورو ګواهانو كيدل ضروري دي اوكه نه؟

جواب: ضروري دي. ([3])

دڅلورو څخه په كمو ګواهانو سره زنا نه ثابتيږي: **سوال**: (۲) كه چيري څلور ګواهان نه وي

([1]) الدر المختار علی هامش ردالمحتار كتاب الحدود ج۳ ص۱۹۵. ط. س. ج۴ ص۵). ظفير

([2]) وعند محمد ما اسكر كثيره فقليله حرام وهو نجس ايضا قالوا وبقول محمد ناخذ الخ (ردالمحتار باب حد الشرب ج۳ ص۲۲۵. ط. س. ج۴ ص۳۸۰) . ظفير

([3]) ويثبت الزنا عندالحاكم ظاهر بشهادة اربعة يشهدون عليه بلفظ الزنا (عالمگيری مصری كتاب الحدود ج۲ ص۱۴۳ ط. ماجديه ج۱ ص۱۴۳). ظفير

نو زنا ثابتيدي سي اوكه نه؟
جواب: نه ثابتيږي. ([1])
صرف دوالدينو په وينا سره زنا نه ثابتيږي: **سوال**: (۳) دزناكاري مور اوپلار كه چيري دا ووايي چه موږ په خپلو سترگو په زنا كولو وليده نو زنا ثابتيږي او كه نه؟
جواب: نه ثابتيږي. ([2])
چه كله قاذف څلور گواهان پيش نه كړي: **سوال**: (۴) كه چيري تهمت لگولو والا څلور گواهان رانه وړي نو دحد قذف مستحق دي اوكه نه؟
جواب: هو! دی.
دزنا دتهمت لگونكي سزا: **سوال**: (۵) يو سړي پريوه زنانه باندي الزام لگوي اودا هم وايي چه موږ په سترگو نه دي ليدلي غرض دا چه الزام ثابت نه دي دداسي سړي دپاره څه حكم دي؟
جواب: مسئله دا ده چه دښځي دخاوند چه كم اولاد وي دهغوی نسب ددې دخاوند څخه ثابتيږي دبل چا طرف ته يې نسبت نه سي كيدي لكه څنگه چه په حديث شريف كی راغلي دي: الولد للفراش وللعاهر الحجر ([3]) يعني اولاد به دهغه سړي طرفته منسوب كيږي چه دچا هغه بي بي ده او دتحقيق څخه بغير تهمت لگول پرهيڅا باندي جائز نه دي په حديث شريف كي ددي ممانعت راغلی دي او تهمت لگونكي سخت گناهگار دي بلكه دشريعت حكم دا دي كه چيري تهمت لگونكي گواهان پيش نه كړل نو پرده باندي حد قذف واجبيږي. ([4]) فقط
دزنا تهمت او دهغی سزا: **سوال**: (۱۱/۶) يو سړي پريو عابد متقي او ذي عصمت باندي دزنا تهمت ولگوی اوگواه يې پيش نه كړی صرف يو سړي دومره وويل چه فلاني سړي او ښځي مي پرلاره باندي په تيريدو سره وليدل.
۲: په دي ملك كي داسلام بادشاه او قاضي نسته چه دچا دطرف څخه حدود شرعيه نافذيږي نو دداسي شخص دپاره دشرعي په نزد څه حكم دي؟

([1]) لاتقبل الشهادة على الزنا الا بشهادة اربعة احرار مسلمين (عالمگيری مصری كتاب الحدود ج۲ ص۱۵۱. ط. ماجديه ج۱ ص۱۵۱). ظفير
([2]) وان شهد على الزنا اقل من اربعة بان شهد واحد او اثنان اوثلاثة لا تقبل الشهادة (عالمگيری مصری كتاب الحدود ج۲ ص۱۵۱. ط ماجديه ج۱ ص۱۵۱). ظفير
([3]) مشكوة شريف ج۲ ص۲۸۷ كتاب اللعان. ظفير
([4]) اذا قذف الرجل رجلا محصنا او امراة محصنة الخ وطالب المقذوف بالحد حده الحاكم ثمانين سوطا ان كان القاذف حرا وان كان عبدا حد اربعين سوطًا (عالمگيری مصری كتاب الحدود ج۲ ص۱۲۰). ظفير

جواب: (۱) په دي صورت کي زنا نه ثابتيږي. ([1])
۲: په دې ملك کي حدود نه جاري کيږي لهذا دغه تهمت لګونکي دي توبه وباسي او دمقذوف څخه دي معافي وغواړي ([2]). فقط

دزنا دتهمت دثبوت څخه بغير حکم: **سوال**: (۷) يو سړي دثبوت شرعي څخه بغير په يو مسلمان باندي دزنا تهمت او دخبيثو کارونو تهمت ولګوي نو ددي څه حکم دي؟ او ديته شهرت ورکوي اوګرځي؟

جواب: دشرعي ثبوت څخه بغير پريو مسلمان باندي دزنا تهمت او دخبيثو افعالو تهمت لګول حرام او ګناه کبيره ده او که چيري حکومت اسلامي وي نو پرتهمت لګونکي باندي سزا دتهمت لازميږي ([3]) وتفصيله فی کتب الفقه، اوچه کم خلق ددغسی غلطو شيانو شهرت کوي هغه سخت ګناه ګار دي. ([4]) فقط

دتهمت لګونکي سره بايد څه څه وکړل سي: **سوال**: (۸) يوه زنانه بوډی د۹ کالو څخه کونډه سويده اوچال چلند ددي ډيره ښه دي ليکن بل يو دويم کس ددي په کورکي نسته ددي وجي څخه څه خلګ ددي دښمنان دي دوی بغير دليدو پر دغه نوکر باندي تهمت ولګوی اوپه جامع مسجد کي دجمعې په ورځ دنوکر پرلاس باندي قرآن شريف کښيښووی او پوښتنه يې ورڅخه وکړه: هغه قسم وخوړی او وې ويل چه زما دمور دعمر په مقدار زنانه ده زه هم دا مور ګڼم، خلقو دی ريشتونی وګڼی او ايله يې کړی او دمخالفينو څخه خفه سو دوې دري مياشتي وروسته دغي مسماتي ښځي دغه نوکر پريښودی نو دښمنانو دغه نوکر دوکه کړی او وې ويل چه زما دوستي ددغه زنانه سره وه جرګه يې قائمه کړه او ددغه نوکر په وينا باندي يې دغه ښځه پنځوس څپلۍ ووهله او بي عزته يې کړه او دخاندان څخه يې وشړله په دي صورت کي ددغه خلقو دپاره شرعًا څه حکم دي؟

جواب: تهمت لګونکي سړي او دده دوکه کولو والا فاسق اوګناهګار دي ددوی خبری لره

([1]) قال الله تعالى لو لا جاءوا عليه باربعة شهداء فاذ لم ياتوا بالشهداء فاولئك عند الله هم الكاذبون (سورة النور رکوع: ۲). ظفير

([2]) دتهمت لګولو والا دپاره سزا اتيا کوړې دی. ارشاد ربانی دی: والذين يرمون المحصنت ثم لم ياتوا باربعة شهداء فاجلدوهم ثمانين جلدة ولا تقبلوا لهم شهادة ابدا واولئك هم الفاسقون. (سورة النور: ۱). ظفير

([3]) ارشاد ربانی دی: والذين يرمون المحصنت ثم لم ياتوا باربعة شهداء فاجلدوهم ثمانين جلدة ولا تقبلوا لهم شهادة ابدا واولئك هم الفاسقون (سورة النور: ۱) لانه لاحد فی دارالحرب (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار کتاب الحدود ج۳ ص۱۹۵. ط. س. ج۴ ص۵). ظفير

([4]) ان الذين يحبون ان تشيع الفاحشة فی الذين امنوا لهم عذاب اليم فی الدنيا والاخرة (سورة النور رکوع: ۲).

اعتبار نسته او ددوی په وینا سره مذکوره زنانه دخاندان څخه خارجول او اوبه وغیره باندي بندول درست نه دي، داسي ظالمانو لره په کاردي چه دداسي ظلم څخه توبه وباسي او دومره قدر ظلم پردغه کونډه ښځه باندي په ناحقه نه دي کول په کار او توبه کول په کار دي (۱). فقط

دتهمت لګولو څخه وروسته چه ما غلط ویلي وه: **سوال**: (۹) نوري په مسجد کي دا بیان وکی چه مور په خان محمد پسي لمونځ نه کوو ځکه چه هغه ولد الزنا دي، اومور په خان محمد پسي لمونځ نه کوو ځکه ددي وجي څخه چه دده مور ته ددي مخکي خاوند طلاق نه وو ورکړي او دده پلار ددي سره نکاح کړي وه چونکه دا نکاح صحیح نه سوه ددي وجي دده مور اوپلار دواړه زنا کار او اولاد یې ولد الزنا سو اوپه ولد الزنا پسي لمونځ صحیح نه دي بیا نوري ددي خبری اقرار وکی چه مور دخفګان او دغصی په وجه داسي وویل زمور څخه قصور وسو په دي صورت کي دنوري دپاره څه حکم دي؟

جواب: که چیري حدود جاري کیدي نو نوري مستحق دحد دقذف وو (۲) اوس صرف توبه کول په کار دي او دخان محمد وغیره څخه دي دقصور معافي وغواړي ځکه چه نوري دخپل مخکني بیان خپله تکذیب وکی لهذا دروغجن کیدل دده ثابت سول. فقط

شپږم باب : تعزیر

دحدودو څخه علاوه دنورو مختلفو جرمونو او دهغو دسز اګانو سره متعلق احکام او مسائل

چه دکم حیوان سره سړي جماع وکړه ددغه سړي او دحیوان حکم: **سوال**: (۱) یو سړي دحیوان سره جماع وکړه نو ددغه سړي په باره کي شرعي څه حکم دي او دحیوان غوښه خوړل څنګه دي؟

جواب: دغوښي په اړه په شامي کي دي: ویعزر وتذبح البهیمة وتحرق علی وجه الاستحباب ولا یحرم اکل لحمها الخ (۳) یعني که چیري دحیوان سره چا جماع وکړه نو

---

(۱) که اسلامي حکومت وای نو هغه دروغ تړونکی به یې اتیا کوړې وهلی ارشاد رباني دی: والذین یرمون المحصنت ثم لم یاتوا باربعة شهداء فاجلدوهم ثمانین جلدة ولا تقبلوا لهم شهادة ابدا واولئك هم الفاسقون (سورة النور رکوع : ۱). ظفیر

(۲) القذف فی الشرع الرمی بالزنا الخ اذا قذف الرجل رجلا محصنا اوامراة محصنة بصریح الزنا الخ وطلب المقذوف بالحد حده الحاکم ثمانین سوطا ان کان القاذف حرا وان کان عبدا حده اربعین سوطا کذا فی فتح القدیر (عالمګیری کتاب الحدود وباب سابع ج۲ ص۱۲۰. ط. ماجدیه ج ۱ ص۱۲۰). ظفیر

(۳) ولا یحد بوطئ بهیمة بل یعزر وتذبح ثم تحرق ویکره الانتفاع بها حیة میتة (درمختار) ولیس بواجب کما فی الهدایه وغیرها وهذا اذا کانت مما لا یوکل فان کانت توکل جاز اکلها عنده وقالا تحرق ایضا (ردالمحتار باب الوطئ الذی یوجب الحد ج۳ ص۲۱۳- ط. س. ج۴ ص۲۲). ظفیر

دغه سړي ته به تعزير وركول كيږي اوپه كوړو به وهل كيږي دا حكم دحاكم دپاره دي او دغه حيوان به ذبح كړل سي يعني خوړل كيږي به نه ليكن دا حكم علي وجه الاستحباب دي اوكه چيري دهغه غوښه دذبح كولو څخه وروسته وخوړه سوه نو درسته ده ليكن ښه نه ده اوځنګه چه فقهاؤ ددي دغوښي دسوزولو حكم ليكلى دي نو دغه رنګه دغه غوښه دفن كول هم درست دي. فقط

دماكول اللحم سره وطي وكړل سوي ددي او دوطي كوونكي څه حكم دي؟ **سوال**: (۲) زيد بهيمه ماكول اللحم وطي كړه نو پردغه سړي باندي شرعًا څه تعزير دي او ددغه بهيمه ماكول اللحم څه حكم دي او ددي خوراك او شيدي څيښل او ددي دبچي څخه فائده حاصلول شرعًا جائز دي اوكه نه؟

جواب: دحيوان په وطي كولو سره تعزير لازم دي او دتعزير مقدار دحاكم رايي ته سپارل سوي دى او ددغه بهميه ذبح كول او سوزول مستحب دي دده غوښه خوړل او شيدې څښل مكروه دي ليكن حرام نه دي او دبچي څخه يې فائده اخيستل درست دي، قال فی الدر المختار يعزر وتذبح البهيمة وتحرق على وجه الاستحباب ولايحرم اكل لحمها ج۱ ص۱۱۳. فقط

دحاملي بيزي سره يې وطي وكړي نو هغه حرامه نه سوه: **سوال**: (۳) ديوې حاملي بيزې سره چا وطي وكړي دغه بيزه حلاله سوه اوكه حرامه؟ كه چيري هغه ذبح كړل سي او وسوزول سي نو دوضع دحمل او درضاعت انتظار كول به پكار وي اوكه نه؟

جواب: په رد المحتار كي دي: ويعزر وتذبح البهيمة وتحرق على وجه الاستحباب ولا يحرم اكل لحمها، شامی (۱) ج۱ ص۱۱۲، ددي عبارت څخه واضحه سوه چه ددغه بيزى غوښه خوړل حرام نه دي ليكن بهتره دا ده چه نه به يې خوري او ذبح يې كړي او وې سوزى، اوكه چيري هغه حامله وي نو بهتره داده چه انتظار دوضع دحمل او درضاع ونه كړي بيا هم ګناه نسته. فقط

دنابالغ بچي يا بيزي سره دوطي كوونكي سزا: **سوال**: (۴) دصبي نابالغه يا بيزې سره يوكس وطي وكړي شهادت كولو والا يو شخص دي صبى او وطى كونكي دواړه منكر دي ددي بيزى څه حكم دي تعزير ددې واطى سته اوكه نه؟

جواب: په درمختاركي دي: ويعذر وتذبح البهيمة وتحرق على وجه الاستحباب ولا يحرم اكل لحمها به الخ شامی (۲) ج۱ ص۱۱۲ ترجمه دا ده او تعزير به وركول كيږي هغه سړي

---

(۱) ردالمحتار ابحاث الغسل ج۱ ص۱۵۴. ط. س. ج۱ ص۱۲۲. ظفير
(۲) ردالمحتار ابحاث الغسل ج۱ ص۱۵۴. ط. س. ج۱ ص۱۲۲. ظفير

ته چه وطي كوونكي وي دغه حيوان لره، او دغه حيوان به ذبح كړل سي او سوزول كيږي به داستحباب په طريقه نه دوجوب په طريقه او ددغه حيوان خوراك حرام نه دي دوطي دوجي، ليكن دا حكم هغه وخت دي چه دحيوان سره وطي په دوو ګواهانو يا اقرار سره ثابتي سي او ديوه په ګواهي سره هيڅ حكم نه ثابتيږي. فقط

دغل څخه مالي جرمانه اخيستل شرعاً جائز دي اوكه نه؟ سوال: (۵) يو سړي ديو بل سړي روپئ غلا كړي په ښكاره كيدو باندي دده څخه ټولي روپي وصول كړل سوي دمحلي مشران خلق په دي باندي متفق دي چه دغلا سوي مال څخه علاوه مبلغ پنځوس روپي دجرماني په طور ادا كړي او دا روپي په دغه مدرسه كي خرچي كړل سي. چه په دغه محله كي دڅه مودي راهيسی قائمه ده، هغه دغه روپي ادا كړي دلته ددي خبرې پوښتنه ده چه دغه روپي په مدرسه خرچ كول جائز دي اوكه ناجائز علاوه ددي څخه چه دكم سړي روپي غلا كړل سوي وي هغه مبلغ ۱۳ روپي دغه سړي ته په خپله وركړي دده دروپيو څه حكم دي؟

جواب: مالي جرمانه شرعًا جائز نه ده كما في الشامي والحاصل ان المذهب عدم التعزير باخذ المال الخ [1] نو ددغه پنځلسو روپو خرچ په مدرسه كي ناجائز دي بلكه دغه روپي واپس كول كار دي، بيا كه چيري هغه په خوشحالي سره وركړي نو په مدرسه كي يې خرچ كول درست دي او ۱۳ روپي چه مالك دخپل طرف څخه په خوشحالي سره وركړي دهغو اخيستل درست دي. ظفير

داهل سنت داكابرو په شان كي دبدزباني سزا: سوال: (۶) يو طالب علم چه كله امام ته مرجي او مولانا اشرف علي صاحب ته ضدي او بد مذهب وويل نو دمدرسی يو سرپرست هغه ته يوه څاپيړه وركړه آيا دده څخه به قصاص اخيستل كيږي اوكه نه؟

جواب: داسي بد زبانه تعزيرًا وهل او چاپيړه ورلره وركول په كار وو. [2]

دشرعي قاضي څخه علاوه بل سړي شرعي حد نه سي قائمولي: سوال: (۷) دلته خو شرعي قاضي سته نه كه چيري يو عالم زنا كار او زنا كار ته زجرًا سل يا دوه سوه څپلي وغيره

---

[1] الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب التعزير ص۲۴۷. ط. س. ج۴ ص۲۱ مطلب فی التعزير باخذ المالل لا باخذ مال فی المذهب بحروفيه عن البزازيه وقيل يجوز ومعناه ان يمسكه مدة لينزجر ثم يعيده له فان يئس من توبته صرفه إلی ما يری وفی المجتبی انه كان فی ابتداء الاسلام ثم نسخ (درمختار) قوله فی المذهب قالل فی الفتح وعن ابی يوسف يجوز التعزير للسلطان باخذ المال وعندهما وباقی الائمة لايجوز (ردالمحتار مطلب فی التعزير باخذ المال ج۳ ص۲۴۲. ط. س. ج۴ ص۲۱). ظفير

[2] وعزر كل مرتكب منكر او موذی مسلم بغير حق بقول اوفعل (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب التعزير ج۳ ص ۲۵۱. ط. س. ج۴ ص۲۲) ظفير

دوهلو حکم ورکړي نو جائز دي اوکه نه؟

جواب: په دي صورت کي دشرعي قاضي څخه علاوه بل سړی حدشرعي نسي قائمولی. (۱)

دخورزي سره دزنا سزا: **سوال**: (۸) يو سړي دخپلي خور دجينۍ سره زنا وکړه دده سره خوراك څښاك سلوك جائز دي اوکه نه اوچه کم خلق ددوی ملګري دي دهغوی دپاره څه حکم دي؟

جواب: په دغه سړي باندي دي توبه وکړل سي او تنبيه دي ورکړل سي که چيري هغه توبه ونه کړي نو دده څخه جدائي پکار ده اوچه خلق دده مددګار دي نوګناهګار دي. (۲) فقط

استاد ته دښکنځلو کولو سزا: **سوال**: (۹) يو سړي خپل استاد ته په دي طريقه سپکاوي وکي چه ته دخنزير يا دسپي زوی يې ددي الفاظو ويونکی دپاره څه حکم دي نکاح يې څنګه چه وه هغه ډول ده اوکه نه؟

جواب: مذکور سړی فاسق او ګناهګار او واجب التعزير دي خو کافر به ورته نه ويل کيږي او دنکاح دفسخ کولو وغيره او احکام دارتداد پرده نه سي جائز کيدي. (۳)

درمضان په ورځو کي علي الاعلان خوراک کولو والا: **سوال**: (۱۰) يو مسلمان درمضان په مياشت کي دورځي په وخت دخپلي بي بي دوفات په دريمه ورځ خوراك پوخ کړی په خپلو خپلوانو او محلي والاو باندي يې خوراك وکی په اعلانيه طور باندي او دتمباکو چيښونکي سره يې ډيره تواضع او مناسبت وکی داسي سړی دګناه کبيره مرتکب دي اوکه کافر اوچا چه دده سره بيعت کړي وو هغه قائم پاته سو اوکه نه؟ دده سره مريد کيدل اوپه ده پسي لمونځ کول څنګه دي؟ او دده سره ولاړه او ناسته څنګه ده؟ او توبه دده به په مجمع عام کي کيږي اوکه به په جامع مسجد کي کيږي اوکه څه؟

جواب: دغه سړي دګناه کبيره مرتکب سو او فاسق دي (۱) کافر نه دي او قابل بيعت هم نه دي اوکمو خلقو چه دده سره بيعت وکی نودغه بيعت درست او جائز نه دي دغه خلق دي دغه فاسق پيرنه ګڼي اوهيڅ مسلمان دي هغه پيرنه جوړوي اودی دي امام نه جوړوي

---

(۱) فی الفتح مايجب حقًا للعبد لا يقيمه الا الامام لتوفقه علی الدعوی الخ (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب التعزير ج۳ ص۲۵۰) حد خو په هندوستان که نسته: لانه لاحد فی دارالحرب (ايضا کتاب الحدود ج۳ ص۱۹۵. ط. س. ج۴ ص۵). ظفير

(۲) که دمسلمانانو حکومت وای نو دا حکم به جاري وای مګر نسته: لانه لاحد فی دار الحرب (ايضا) حديث نبوی دی من وقع علی ذات محرم فاقتلوه رواه الترمذی (مشکوة باب التعزير ص۳۱۷. ردالمحتار ط. س. ج۴ ص۵). ظفير

(۳) وعزر کل مرتکب منکر او موذی مسلم بغير حق بقول اوفعل الخ وعزر الشاتم يا خبيث يا سارق يا فاجر يا مخنث الخ (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب التعزير ج۳ ص۲۵۱. ط. س. ج۴ ص۲۲). ظفير

او دده سره دي صحبت نه ساتي چه ترڅو پوري توبه په ونه باسي دده سره تعلق پريکول په کار دي توبه په مجمع عام کي وي اوکه په مجمع خاص کي جامع مسجد وي اوکه غير جامع مسجد په هرځای کي توبه په هره طريقه قبليږي. فقط

داکابرو امامانو توهين کولو والا دتعزير مستحق دي: **سوال**: (۱۱) چه کم سړي ائمه اربعه او خصوصًا امام ابو حنيفة رحمه الله ته گمراه او بي دينه ووايي يا دامام بخاري رحمه الله توهين وکړي يا ديو صحابي توهين وکړي دده په باره کي څه حکم دي؟

جواب: دغه سړي چه داسي عقيده وساتي او پرائمه دين خصوصًا پرامام الائمه ابو حنيفة او امام المحدثين امام بخاري رحمهما الله باندي يې بد ظن وي يا ديو صحابي توهين وکړي مبتدع، فاسق او بي دينه دي او دتعزير مستحق دي. [2] فقط

دزناکار څخه مالي جرمانه اخيستل درست نه دي: **سوال**: (۱۲) که چيري پر يو زناکار باندي دزنا په وجه جرگې والا جرمانه ولگوي نو دغه جرمانه په نيك کار مثلاً دمسجد په تعمير وغيره کي صرف کول جائز دي اوکه نه؟

جواب: مالي جرمانه لگول په شريعت کي ناجائزه ده نو چه کمي روپې او پيسې په جرمانه کي اخيستی سي مالك ته واپس کول په کار دي که چيري هغه په خپله خوښه دمسجد په تعمير کي ولگوي نو جائز ده: فی الشامی جلد نمبر۳ فی البزازيه ان معنی التعزير باخذ المال علی القول به امساك شيء من ماله عند مدة لينجز ثم يعيده الحاکم اليه لا ان ياخذ الحاکم لنفسه او لبيت المال کما يتوهمه الظلمة (الی قوله) اذ لا يجوز لاحد من المسلمين اخذ مال احد بغير سبب شرعی. [3]

دهندوانو په خوراک خوړلو باندي تعزير نسته: **سوال**: (۱۳) که يو مسلمان دهندوانو خوراك وخوري چه په هغه کي دخنزير يا مرداری يا جټکي والا حيوان خوړلو اشتباه وي په دي باندي شرعًا څه تعزير دي؟

جواب: دمسلمانانو دپاره دداسي سړي دخوراك څخه احتراز مناسب دي ليکن مخکي يې چه څه وخوړل په هغه باندي څه تعزير وغيره نسته آينده احتياط ساتل په کاردي. فقط

---

[1] وکل مرتکب معصية لاحد فيها التعزير اشباه (درمختار) والمفطر فی رمضان يعزر ويحبس (ردالمحتار باب التعزير ج۳ ص۲۵۱ ط. س. ج۴ ص۶۲). ظفير

[2] وترد شهادة من يظهر سب السلف لانه ظاهر الفسق الخ او يظهر سب السلف يعنی الصالحين منهم وهم الصحابة والتابعون (ردالمحتار باب المرتد ج۳ ص۳۰۵. ط. س. ج۴ ص۲۳۷) وعزر کل مرتکب منکر وموذی مسلم بقول او فعل (الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب التعزير ج۳ ص۲۵۱. ط. س. ج۴ ص۶۲). ظفير

[3] وگورئ: ردالمحتار مطلب فی التعزير باخذ المال ج۳ ص۲۴۲. ط. س. ج۴ ص۶۱. ظفير

<u>متبع شريعت معزز ته په حرام زاده وغيره ويلو سره به دتعزير مستحق وي</u>: سوال: (۱۴) دزيد اوبكر ترمينځ تكرار وسو زيد بكر ته دا ښكنځل وكړل چه ته او ستا دښار ټول اوسيدونكي حرامزاده او ولد الزنا دي، حالانكه بكر متبع شريعت او معزز شخص دي آيا دزيد دپاره شرعًا تعزير او تاديب ستنه اوكه نه؟

جواب: په دي صورت كي به زيد ته تعزير وركول كيږي او زيد دتعزير مستحق دي، ليكن واجب تعزير په داسي صورت كي پردعوي باندي موقوف دي او قاضي او حكم ددي څخه وروسته دا جاري كولي سي بهر حال زيد په دي كی گناهگار سو توبه دي وكړي او دبكر څخه دي معافي وغواړي كنه نودبكرپه دعوه سره به حاكم زيد ته تعزير وركوي. (۱)

<u>درعايا څخه جرمانه اخيستل شرعًا درست نه دي</u>: سوال: (۱۵) زميندار خلق دخپل رعايا څخه جرمانه اخلي يوه روپۍ دڅلور آنو په حساب سره اخلي دا جرمانه اخيستل شرعًا جائز دي اوكه نه؟

جواب: داجرمانه اخيستل شرعًا درست نه دي كمافی الشامی: لايجوز لاحدمن المسلمين نفس منه الحديث (۲) او كما قال ﷺ . فقط

<u>دحيوان سره دوطي كولو سزا</u>: سوال: (۱٦) كه يو سړي دحيوان بيزې سره جماع وكړي نو ددي په نسبت تعزير شرعي څه دی او ددي غوښه خوړل څنگه دي؟

جواب: هغه شخص دي توبه وكړي او ددغه حيوان غوښي خوړل نه دي پكار هغه دي حلاله كړي او ودي سوزول سي. (۳)

<u>دلمانځه په پابندي نه كولو باندي مالي جرمانه اخيستل جائز نه دي</u>: سوال: (۱۷) كه چيري دمړي وارثان دپنځه وخته لمونځ پابند نه وه نو ددي وجي څخه امير محله يا مُتولي دمالي جرماني اخيستو څخه بغير دمسلمانانو دمړو دفن كولو اجازت نه وركوي تردي چي مالي جرمانه واخلي مړي ته ددفن كولو اجازت وركوي په دي صورت كي مالي

---

(۱) اذا شتم اصله عزر بطلب الولد كيا ابن الفاسق يا ابن الكافر وانه يعزر بقوله يا قحبه الخ يا حرامزاده معناه المتولد من الوطی الحرام (الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب التعزير ج۳ ص۲۵۵. ط. س. ج۴ ص۷۰) لكن فی الفتح ما يجب حقا للعبد لا يقيمه الا الامام لتوقفه علی الدعوی الا ان يحكم فيه (ايضا ج۳ ص۲۵۰. ط. س. ج۴ ص۲۵). ظفير

(۲) اذ لا يجوز لاحد من المسلمين اخذ مال بغير سبب شرعی الخ والحاصل ان المذهب عدم التعزير باخذ المالل (ردالمحتار باب التعزير مطلب في التعزير باخذ المال ج۳ ص۲۴۲، ط.س. ج۴ ص۲۱). ظفير

(۳) لا يحد بوطؤ بهيمة بل يعزر وتذبح وتحرق ويكره الانتفاع بها حية وميتة ای يقطع امتداد التحدث به كلما رويت وليس بواجب كما فی الهدايا وغيرها وهذا اذا كانت عما لا يؤكل فان كانت تؤكل جاز اكلها عنده وقالا تحرق ايضا (ردالمحتار مطلب في وطئ الدابة ج۳ ص۲۱۳، ط.س. ج۴ ص۲۲). ظفير

جرمانه اخیستل څنګه دي او اخیستو والا څنګه دي او مالي جرمانه دمسجد په کارونو کي خرچ کول درست دي اوکه نه؟

جواب: ګناه پردغه امیر محله او متولي باندي ده چه جرمانه اخلي او بغیر جرمانه دمسلمانانو دمړي ددفن کولو اجازت نه ورکوي او جرمانه اخیستل په شریعت کي حرام دي او اخیستو والا فاسق دی او دغه دجرمانې روپی دمسجد په کارونو کي خرچ کول درست نه دي. (۱)

چه کمي زنانه په پټه دشپې دیو بدمعاش سره ملاقات وکی دهغې سزا: **سوال**: (۱۸) دوه کسان لمونځ ګذارو دخپل محله دار په وینا سره دشپې په پټه وکتل چه ددغه محله دار بي بي دیو بدمعاش سړي سره ډیر په خوشحالی لاس یوځلی کړی په دي باندي یې دغه دواړه یې ډیر ووهل په دي صورت کي ددغه زنانه اوسړي دپاره څه حکم دي؟

جواب: چه کله دغه لمونځ ګذارو دغه زنانه داجنبي فاسق سړي سره په داسي انبساط او اختلاط سره ولیده نو دوی ته تنبیه ورکول او وهل ددغه فاسق او فاسقی درست وو لکه چه په درمختار باب التعزیر کي دي: ویقیمه کل مسلم حال مباشرة المعصیة الخ (۲) او ګناهګار کیدل ددغه سړي او ښځي په دي حالت کي ظاهر دي ددي څخه دي دوی دواړه توبه وکړي (۳) لیکن په دومره خبره لیدو باندي دزنا حکم نه سي کیدي او دزنا ثبوت هم په دي سره نه سي کیدي او ددغه زنانه نکاح دخپل خاوند سره قائمه ده. فقط

دحیوان سره په زنا کولو باندي تعزیر: **سوال**: (۱۹) زید بیزه وطي کړه ددي بیزی په نسبت څه حکم دي؟ ددې غوښه خوړل کیږي اوکه نه او شیدې یې څښل کیږي اوکه نه دوطي دپاره څه حکم دي؟ بعضي وایي چه بیزه به ذبح کړل سي او دفن دي کړل سي. او قیمت ددي دي دواطي څخه وصول کړل سي.

جواب: دحیوان سره پروطي کوونکي باندي تعزیر دي چه څه حاکم مناسب وګڼي او دویم دا چه دبیزې دذبح کولو او سوزولو حکم دي استحباباً او غوښه خوړل ددی او شیدې څښل یې حرام نه دي، او ساتل یې درست دي او قیمت ددغه دواطي پرذمه نه دی، ځکه چه مالك ته اختیار دي چه دغه بیزه وساتي او ذبح یې نه کړي البته بهتره دا ده چه ذبح

---

(۱) والحاصل ان المذهب عدم التعزیر باخذ المال الخ اذ لا یجوز لاحد من المسلمین اخذ مال احد بغیر سبب شرعی (ردالمحتار مطلب فی التعزیر باخذ المال ج۳ ص۲۴۲ – ۲۴۷. ط. س. ج۴ ص۲۱). ظفیر

(۲) یعزر المولی عبده والزوج زوجته لعلی ترکها الزینة الخ والخروج من منزلها الخ وکشفت وجهها لغیر محرم اوکلمة (ایضا ج۳ ص۲۰۰. ط. س. ج۴ ص۷۷). ظفیر

(۳) الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب التعزیر ج۳ ص۲۵۵. ط. س. ج۴ ص۲۲. ظفیر

كړل سي او وسوزول سي، په ردالمحتار يعني شامي كي دي: ويعزر وتذبح البهمية وتحرق على وجه الاستحباب ولا يحرم اكل لحمها به الخ (١) (دبيزې دقيمت مطالبه دواطي څخه بيزى والا كولي سي. او ددي قيمت وركول په كار دي (٢)، ظفير). فقط

دوطي كولو اراده وكړى ليكن دخول ونه سي نو غوښه يي بغير دكراهت څخه حلاله ده:

سوال: (٢٠) زيد دوطي كولو په اراده يو حلال حيوان مثلاً غوا، بيزه وغيره ته ګوتي وروړي، تردي پوري چه زيد خپل ذكر دحيوان دفرج سره بغير دفصل ديو شي څخه پيوست كړى ليكن دخول ونه سو ياده مطلقا وطي وكړه نو اوس په حالت مذكوره كي زيد يا نورو مسلمانانو ته دموصوف حيوان شيدې يا غوښه يا ددي بيع حلاله ده اوكه نه؟ او آيا دزيد دپاره دګناه مذكوره دمعافى دپاره استغفار كافي كيدي سي اوكه نه؟ اوكه به كفاره وركوي نو ددي كفاره به څه وي؟

جواب: كه چيري دخول نه وي سوي نو ددي غوښه شيدې بغير دكراهت څخه حلال دي اوكه چيري دخول وسو نو بهتره دا ده چه دغه حيوان ذبح كړي او غوښه يې دفن كړل سي او هيڅوك يې ونه خوري او كه چا وخوړه نو حرامه نه ده ليكن ښه نه ده كذا في الشامي او زيد دي ددغه شنيع عمل څخه توبه وباسي توبه كول دګناه دمعافي دپاره كافي ده، او نور هيڅ كفاره ماسوا دتوبي څخه نسته. (٣)

مسلمانانو ته ښكنځلو والا دتعزير مستحق دي: **سوال:** (٢١) يو سړي يو مسلمان با شريعت قوم سيد ته بد رد وويل په منع كولو باندي يې دسيدانو نوم واخيستى او ښكنځل كول يې شروع كړل او منع نه سو دداسي سړي په حق كي شرعًا څه حكم دي؟

جواب: دغه سړي فاسق دي او په شريعت اسلام كي دي دتعزير مستحق دي كما ورد: سباب المسلم فسوق وقتاله كفر (٤) وقال الله تعالى: ولاتلمزوا انفسكم ولا تنابزوا بالالقاب بئس الاسم

---

(١) ردالمحتار ابحاث الغسل ج١ ص١٥۴. ط. س. ج ١ ص ١٢٢. ظفير

(٢) ولايحد بوطئ بهيمة بل يعزر وتذبح وتحرق ويكره الانتفاع بها حية ومية وفى النهر الظاهر انه يطالب ندبا لقولهم تضمن الخ (درمختار) هذا اذا كانت مما لايوكل فان كانت توكل جاز اكلها عنده وقالا تحرق ايضا فان كانت الدابة لغير الواطى يطالب صاحبها ان يدفعها اليه بالقيمة ثم تذبح هكذا قالوا ولا يعرف ذلك الا سماعا فيحمل عليه زيلعى ونصر قوله الظاهر ان يطالب ندبا الخ الى قولهم يطالبها صاحبها ان يدفعها الى الواطى ليس على طريق الجبر وعبارة النهر انه يطالب على وجه الندب ولذا قال فى الخانية كان لصاحبها ان يدفعها اليه بقيمته اهـ وعبارة البحر والظاهر انه لا يجبر على دفعها (ردالمحتار باب التعزير ج٣ ص٢١٣ – ٢١۴. ط. س. ج۴ ص٢٢. ظفير

(٣) لايحد بوطئ بهيمة بل يعزر وتذبح ثم تحرق ويكره الانتفاع بها حية وميتة (الدرالمختار على هامش ردالمحتار باب التعزير ج٢ ص٢١٣. ط. س. ج۴ ص٢٢). ظفير =

الفسوق بعد الایمان ومن لم یتب فاولئک هم الظلمون (۱) نومعلومه سوه چه مذکوره سړی ظالم او فاسق دي توبه دي وکړي او ددغه سید مظلوم او مشتوم څخه دي دقصور معافي طلب کړي. فقط

چاچه دخنزیر شیدې استعمال کړې دهغه سزا: **سوال:** (۲۲) محبوب پټیل ترڅلوېښتو ورځو پوري دخنزیر شیدې په دوایي کي استعمال کړيي دي دده دپاره شرعاً څه سزا ده؟

جواب: هغه سړی چه دچا څخه داقصور وسو توبه دي ورباندي وایستل سي چه آئنده به کله هم داسي نه کوي نو الله تعالي به دده تیر سوي ګناهونه معاف کړي، مسلمانانو ته په کار دي چه په ده دي پخه توبه وباسي که چیري ده توبه وایسته نو دده سره دي راشه درشه قائمه وساتي. فقط

دجرماني رقم دمجرم په رضا سره په بل یو مد کي خرچ کیدي سي: **سوال:** (۲۳) یوسړي دلمونځ کولو څخه انکار وکی خلافت پرده باندي لس روپۍ جرمانه ولګوله نو دا روپۍ په مسجد یا مدرسې یا دخلافت په صرف کي راتلي سي اوکه نه؟

جواب: دده په رضا اوخوشحالۍ سره چه په کم یومد کي یې غواړي صرف کیدي سي. (۲)

دلمونځ پرېښودونکي دتعزیر مستحق دي: **سوال:** (۲۴) دتارك جماعت او تارك نماز دپاره په هر یو ښار کي دلمانځه کمیټیانو چه کمه جرمانه مقرر کړي ده دا جائز ده اوکه نه؟

جواب: دلمانځه دپرېښودو په وجه هریو تعزیر دسخت څخه سخت ورکول جائز دي، تردې پوري چه تارك نماز تعزیراً قتلول هم دامامانو څخه منقول دي نوچه په کمه طریقه بې نمازه دلمانځه پابند جوړیدي سي نو ضروري ده او ظاهره ده چه عوام ماسوا دجرماني څخه په بله طریقه متنبه کول ګران دي، او هر یوتعزیر پرهر یوه سړي نه سي جاري کیدی او مالي جرمانه په خاص کیفیت سره دائمه ؤ څخه منقول دي، قال فی الشامی وافاد فی البزازیه (۳) ان معنی التعزیر باخذ المال علی القول به امساك شيء من ماله عند مدة لینزجر ثم یعیده الحاکم الیه الخ وفی المجتبی لم یذکر کیفیة الاخذ واری ان یاخذها فیمسکها فان یئس من توبة یصرفه الی ما یری الخ. (۴)

---

(۴) مشکوٰۃ باب حفظ اللسان ص۴۱۱ . ظفیر

(۱) سورۃ الحجرات: رکوع ۲. ظفیر

(۲) وکل مرتکب معصیة لاحد فیها، فیها التعزیر اشباه (درمختار) قال فی فتح القدیر ویعزر من شهد شرب الشاربین والمجتمعون علی شبه الشرب وان لم یشربوا ومن معه زکوة خمر الخ ویاکل الربوا والمغنی والمخنث والنآئحة یعزرون ویحبسون حتی یحدثوا توبة الخ (ردالمحتار باب التعزیر ج۳ ص۲۵۱ . ط. س. ج۴ ص۲۷). ظ

(۳) فی البزازیة ان معنی التعزیر باخذ المال علی القول به امساك شیء من ماله عنه مدة لینزجر ثم یعیده الحاکم الیه (ردالمحتار مطلب فی التعزیر باخذ المال ج۳ ص۲۴۲ . ط. س ج۴ ص۲۱). ظفیر =

په بي بي باندي دزنا کولو والا سزا: سوال: (۲۵) یو سړي په خپلي بي بي باندي په خپل کورکي عامه زنا کوي دټول ښار خلق یې پیژني شرعًا دده څه سزا کیدي سي؟

جواب: په داسي حالت کي دمسلمانانو په اختیار کي ماسوا ددي څخه بله څه سزا ده چه ددواړو سره دي تعلق پریکړي او ددوی په خوشحالی او غم کي دي بالکل شرکت نه کوي او په هره طریقه دي دوی مجبوره کړي چه دي دغه حرکت شنیعه پریږدي او توبه وباسي (۱). (ځکه چه په هندوستان کي دزنا سزا رجم نه سي کیدی ولي چه غیر مسلم ملك دی، ظفیر). فقط

دمالي جرماني شرعي حکم: سوال: (۲۶) دمسلمانانو یو گروه دا اعلان وکی چه کم یو سړی دیو گناه کبیره مرتکب سو نو هغه به زموږ دخاندان څخه جدا کیږي مگر چه ددې گناه څخه توبه وباسي او پوخوالی دعهد او اعلان او څه رقم تاکل سوي اهل خاندان ته ورکړي چه هغه خاندان په خپله رایه سره په یو ښائسته مصرف کي خرچ کړي داجائز دي اوکه نه؟

جواب: دا اعلان او معاهده خو ډیره ښه ده چه کم سړي دگناه کبیره مرتکب وي هغه دخاندان څخه خارج دی مگر نه هغه وخت چه ددغه گناه څخه توبه وباسي، لیکن مالي جرمانه داحنافو په نزد ناجائز ده او که چیري دتنبیه په غرض دیو گناه کبیره دمرتکب او تارك نماز سره مثلاً داسي وکړل سي نو ددي دجواز دا صورت دي چه دغه جرمانه دي جدا کنبښول سي اوبیا په یوه وخت دي دغه سړي ته واپس ورکړل سي. چه دچا څخه یې اخیستی ده یا دده په اجازت سره چه په کم کار خیر کي هغه ووایي مصرف کړل سي. (۲)

دجنازي پرلمانځه باندي په پابندي نه کولو باندي مالي جرمانه لګول څنګه دي: سوال: (۲۷) چه کم سړي دمړي په گور او کفن کي شریك نه سو پرهغه جرمانه لګوي (۱) فرض

(۴) وګورئ ردالمحتار مطلب فی التعزیر باخذ المال ج۳ ص۲۴۲ ط. س. ج۴ ص۲۱) لیکن صحیح دا ده چه مالي جرمانه جائز نه ده او که یې مالي جرمانه اخیستي وي نو واپس ورکول یې اړین دي، علامه شامي ددې بحث په ختم کولو کي لیکلي دي: والحاصل ان المذهب عدم التعزیر باخذ المال (ایضا ج۳ ص۲۴۷. ط. س. ج۴ ص۲۱) خپله مفتي علام دا فتوي ورکوي لکه څنګه چه مخکي تیر سوه غالباً دلته به اصلي وجه همدغه وي چي واخستل سي او څه ورځي وروسته یې بیرته ورکړي ځکه تنبیه سي لکه څنګه چه یې په یوه جواب کي صراحت فرمان کړي دي. ظفیر

(۱) لانه لاحد فی دارالحرب (الدرالمختارعلی هامش ردالمحتار کتاب الحدود ج۳ ص ۱۹۵. ط. س. ج۴ ص۵).

(۲) لا باخذ المال فی المذهب بحر وفیه عن البزازیه وقیل یجوز ومعناه یمسکه مدة لینزجر ثم یعیده الیه (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب التعزیر ج۳ ص۲۴۲. ط. س. ج۴ ص۲۱). ظفیر

لمونځ کوي اوکه نه په دی باندي هيڅ انتظام دخاندان نسته (۲) چه څوك دجنازي لمونځ نه کوي پرهغه هم جرمانه لګوي (۳) دچا څخه جرمانه اخيستل ديګ وغيره لوښی اخيستل چه دخاندان په کارکي راځي (۴) دده پوخ کړل سوي خوراك جائزدي اوکه نه؟

جواب: (د ۱ نمبر څخه تر ۴ پوري) دا ښه کار دي چه دخاندان خلقو ته دلمانځه تاکيد وکړل سي. اوپر ترك نماز باندي هغوی ته تنبيه ورکړل سي. برابره خبره ده که دجنازي لمونځ وي اوکه فرائض پنځه وخته بلکه دپنځه وخت لمونځونو زيات تاکيد په کار دي او ددي په ترك باندي زياته تنبيه پکار ده او دمړي شرکت هم دثواب کار دی ددې تاکيد هم ښه کار دي ليکن مالي جرمانه په شريعت کي نسته اوکه چيري دتنبيه په غرض وکړل سي نو هغه ورکونکو ته واپس کول پکار دي يا ددوی په دوباره اجازت او خوشحالۍ سره په ورکولو سره دي په يو نيك کارکي خرچ کړل سي، او لوښي اخيستل هم ددوی په اجازت اوخوشحالۍ سره درست دي ليکن جبر به نه سي کولی او دجبري اجازت هيڅ اعتبار نسته. ([1]) فقط

<u>دلواطت سزا</u>: **سوال**: (۲۸) دوو بي ږيرو بالغو هلکانو لواطت کوی چه شپږو کسانو ونيول دوی دواړو ته به څه تعزير ورکول کيږي؟

جواب: تاسو څه تعزير او حد نه سي لګولي داکار دمسلمان حاکم دی. ([2])

<u>دعلاتي خور دښکلولو سزا</u>: **سوال**: (۲۹) يو هلك دخپلي علاتي خور څخه مچه واخيسته يعني ښکل يې کړه دواړو ته دا تسليم دي ددوی دپاره څه سزا ده ديو کال راهيس دخاندان څخه جلا دي او دجينۍ نکاح دبل هلك سره کړل سوي ده؟

جواب: دعلاتي ورور اوخور په خپلو کي دا حرمت دي لکه څنګه چه دحقيقي خور څخه مچه اخيستل نه دي په کار او دتوبي څخه علاوه يې بله سزا نسته، په ده باندي دي توبه وايستل سي اوپه خاندان کي دي شامل کړل سي. ([3])

([1]) لا باخذ المال فی المذهب وفيه عن البزازيه وقيل يجوز ومعناه ان يمسکه يعيده اليها (درمختار) والحاصل ان المذهب عدم التعزير باخذ المال (ردالمحتار باب التعزير ج۳ ص۲۴۲ – ۲۴۷. ط. س. ج۴ ص۲۱). ظفير

([2]) لاباخذ المال فی المذهب وفيه عن البزازيه وقيل يجوز ومعناه ان يمسکه ثم يعيد اليه (درمختار) والحاصل ان المذهب عدم التعزير باخذ المال (ردالمحتار باب التعزير ج۳ ص۲۴۲ – ۲۴۷. ط. س. ج۴ ص۲۱). ظفير

([3]) لانه لاحد فی دارالحرب (الدرالمختار علی هامش ردالمحتل کتاب الحدود ج۳ ص۱۹۵. ط. س. ج۴ ص۵) دتعزير په سلسله کي دی: ويقيمه کل مسلم حالل مباشرة المعصية واما بعده فليس ذلك لغير الحاکم والزوج والمولی (ايضا باب التعزير ج۳ ص۲۵۰. ط. س. ج۴ ص۲۵) باقی دغلام بازی (بچه بازي) سزا په اسلام کي سخته ده: ولا يحد الخ بوطئو دبر وقالا ان فعل فی الاجانب حد وان فی عبده او امته ارو زوجته فلا حد اجماعا بل يعزرقال فی الدرالمختار الاحراق بالنار وهدم الجدار والتنکيس من محل مرتفع باتباع الاحجار وفی =

حیوان وطي کړي او بیا یې خرڅ کړي نو په رقم به څه کوي؟ **سوال**: (۳۰) زید یوه غوا وطي کړه او بیا یې خرڅه کړه دغه روپۍ به په کم مصرف کي صرف کیږي؟ دغه روپۍ صدقه کولي سي اوکه نه او زید ته به څه سزا ورکول کیږي؟

جواب: په شامي کي دي چه دکم حیوان سره وطي کړل سوي وي نو مستحب دا دي چه دا ذبح کړل سي او دده غوښه دي وسوزل سي اوهیڅا ته دي ورنه کړل سي نه دي صدقه کړل سي او وطي کوونکي ته دي تعزیر ورکړل سي. او خوراك ددغه حیوان حرام نه دي بلکه مکروه دي او ښه نه دي: ویعزر وتذبح البهیمة وتحرق علی وجه الاستحباب ولا یحرم اکل لحمها به الخ (۱) نو دجمله: ولا یحرم اکلها څخه ظاهره ده چه مذکوره حیوان دمالك دملك څخه خارج نه سو، او ددغه حیوان ذبح کول او غوښه یې سوزول مستحب دي، او خوراك یې حرام نه دی نوکه چیري دحیوان مالك دغه مذکور حیوان خرڅ کړی نو دهغه قیمت دده ملك دي دا یې خوښه ده که په خپل تصرف کي راولي یا یې صدقه کړي او بهتره صدقه کول معلومیږي چه دمذکوره گناه کفاره وسي او دغه سړي دي توبه وکړي اوسزا دده همدغه کافي ده چه په ده باندي توبه وکړل سي اودغه سړي دي مذکوره قیمت صدقه کړي. فقط

دمیلاد مروجه نه کولو والا ته سزا ورکول درست نه دي: **سوال**: (۳۱) دمسلمانانو په جرگه کي پریو سړي باندي دیو جرم په وجه دا خبره مقرر کړل سوه چه دغه مذکوره سړی به په لسو مسکینانو باندي خوراك خوري اویو میلاد شریف به کوي نو هلته په خاندان کي شاملیدي سي. په دي باندي دریم نفر وویل چه داټول لغوه او غلط دي، میلاد شریف زماپه فلاني کي ولاړی، ته په فقیرانو باندي هیڅکله خوراك مه کوه او نه میلاد وکړي، په دي صورت کي دمانع دپاره څه حکم دي اومیلاد شریف ته بدرد اوښکنځلو والا دسزا مستوجب دي اوکه نه؟

جواب: په شریعت کي دا سزا دهیڅ مجرم نه ده بیان کړل سوي چه په لسو فقیرانو یا پنځوسو فقیرانو باندي خوراك وخوري دا دجرگې دځانه جوړ سوی رواج دي دا دشریعت حکم نه دي او په شریعت کي جرمانه لگول هم درست نه دي کم چه دعامو جاهلانو په

= الحاوی والجلد اصح، وفی الفتح یعزر ویسجن حتی یموت او یتوب ولو اعتاد اللواطة قتله الامام سیاسة (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب الوطئ الذی یوجب الحد وما لا یوجبه ج۳ ص۲۱۴. ط. س. ج۴ ص۲۲) په تفصیل سره دا مسئله وگورئ: دخاکسار په کتاب کي نامداره په (نسل کشی). ظفیر

(۱) ویعزر من شهد شرب الشاربین الخ وکذا من قبل اجنبیة اوعانقها اومسها بشهوة (ردالمحتار باب التعزیر ج۳ ص۲۵۱. ط. س. ج۴ ص۲۷). ظفیر

کورنیو کي مروج ده (۱) دغه رنګه دمروجه میلاد شریف مجلس منعقد کولو ته علماؤ بدعت او مکروه ویلي دي (۲) لهذا دخاندان دیو مجرم دپاره څه کفاره مقرر کول چه ولاړ سه اوپه لسومسکینانو باندي خوراك وخوره اومیلادشریف وکړه غلط دي نودا دشریعت حکم نه دي نوداسي حکم رد کول خو عین دشریعت مطابق دي لیکن دغه سړي دمیلاد وغیره منع کوونکي ته داسي لفظ ویل په کار نه وو چه شرعًا او عرفا قبیح دي بلکه ده ته دا ویل په کار وه چه دا حکم دشریعت خلاف دی ددي وجي په دي باندي عمل درآمد کول نه دي په کار او داسي ګستاخ او عامي جاهلانه لفظ استعمالول نه وو پکار ددي څخه دي توبه وکړي. فقط

صحیح العقیده مسلمان ته بي تحقیقه قادیاني ویل صحیح نه دي: **سوال**: (۳۲) زید دبکر په نسبت چه دښار امام او دټولو مسلمانانو دیني پیشوا او پوخ حنفي دي دا ددروغو الزام ولګوی چه هغه قادیاني سوي دي، مسلمانانو ته به کار دي چه په هغه پسي لمونځ ونه کړي او نکاح وغیره دي نه په لولي او ددي افتراء او دبهتان شهادت یې دیو څو اوریدونکو دیوې لویي مجمع په مخکی چه په هغه کي په زرګونو کسان راجمع وه وکی، نو دزید دپاره ددي سزا شرعًا څه په کار ده؟

جواب: پر یو مسلمان سني حنفي باندي بي تحقیقه داسي تهمت لګول چه دی قادیاني سوي دي یا قادیاني دي ګواکي ده ته کافر ویل دي او په حدیث شریف کي دي: که چیري یو کس ته کافر وویل سي او هغه داسي نه وي نو دا کفر پرهغه چا ورواپس کیږي چه چا ویلی دي: عن ابن عمر قال قال رسول الله ﷺ ایما رجل قال لاخیه کافر فقد باء بها احدهما متفق علیه (۳) اوپه بل حدیث شریف کي دي: سباب المسلم فسوق وقتاله کفر (۴) الغرض زید په دي صورت کي فاسق دي ده ته توبه ایستل په کار دي او په چا باندي یې چه تهمت لګولي دي دهغه څخه معافي غوښتل په کار دي: قال الله تعالی یا أیها الذین آمنوا لا تسخر قوم من قوم عسی ان یکونوا خیرا منهم (الی قوله تعالی) بئس الاسم الفسوق بعد الایمان ومن لم یتب فاولئك هم الظالمون (۵). فقط

---

(۱) لا یجوز لاحد من المسلمین اخذ مال احد بغیر سبب شرعی (ردالمحتار باب التعزیر ج۳ ص۲۴۲. ط. س. ج۴ ص۲۱). ظفیر
(۲) من احدث فی أمرنا هذا ما لیس منه فهو رد (مشکوة ص ۲۷). ظفیر
(۳) مشکوة باب حفظ اللسان ص۴۱۱ . ظفیر
(۴) مشکوة باب حفظ اللسان ص۴۱۱ . ظفیر
(۵) سورة الحجرات رکوع: ۲. ظفیر

په هندوستان کي دشرعي سزا اجراء په موجوده حالت کي نه سي کيدي: **سوال**: (۳۳) زيد دغرور او تکبر اوحسد په وجه دعمرو غريب الوطن جاني دښمن سو تردي پوري چه ده يو څو نور بد معاشان دځان سره کړل دنيمی شپی په وخت يې پر عمرو باندي قاتلانه حمله وکړه او دده بي بي يې هم جبراً را وايسته او بهر ته يې بوتله عمرو اګر چه ډير په بدي طريقی زخمي سو ليکن دالله تعالي په فضل سره يې ژوند وژغورل سو او دده بي بي هم قادر مطلق ذات دظالمانو دلاس څخه راخلاصه کړه زيد ديو بل ملګري سره يوځای ګرفتار سو او پوليسو ته حواله سو اوس دده بعضو خپلوانو دعمرو سره راضي نامه ليکل وغوښتل ليکن عمرو درواجي راضي نامي څخه انکار وکی او شرعي فيصله يې منظوره کړه ليکن دوی قبوله نه کړه آخر دوی دواړه په سزا کي قيدي او جرمانه سول آيا دداسي شرير اوسرکښ چه مخکي هم دغلا وغيره عادي وو مناسب چاره جوئي کول او سزا ورکول بهتر وه اوکه په پټه معاف کول او چه څوك دزيد دپاره امداد اوکوشش کوي دهغه دغه کار ددغه لاندي آيتونو خلاف دي او که نه؟ يا ايها الذين امنوا لا تتخذوا اباءکم واخوانکم اولياء الخ لا تجد قوما يومنون بالله واليوم الاخر يوادون من حاد الله ورسوله، الاية ؟ بينوا وتؤجروا !

جواب: دراضي نامه او معافی کولو کوشش مطلب دا وي چه ظالم دخپل ظلم څخه پښيمانه سي دمظلوم څخه عفوه وغواړي او دعفوي په حقدار کيدو کي هيڅ خبره نسته ([1]) دقاتل دمعاف کولو ذکر الله تعالي فرمايلی دي: فمن عفی له من اخيه شيء الاية ([2]) نوچه کله دقتل څخه هم معافي کيدي سي او بهتره ده نو دقتل څخه په کم ظلم کي په درجه اولي معافي بهتره ده غرض ددي څخه دا دی چه ظالم کله نادم سو او هغه دندامت اظهار وکی او توبه يې وکړه لکه څنګه چه دده دمعافی غوښتو څخه ښکاره سوي ده نو مظلوم لره يې معاف کول بهتر دي، اوکه چيري هغه يې معاف نه کړي چه دهغه په اختيار کي دي نو بيا شرعي سزا ورکول په کار دي، ليکن ښکاره ده چه شرعي سزا نه جاري کيږي ([3]) او حَکَم چه کمه سزا ورکړي هغه شرعي نه وي لهذا که چيري دقانوني سزا څخه چه شرعي سزا نه ده دبراءت او آزادي کوشش وکړل سي نو په دي کی څه شرعي معذوري

([1]) وهو ای التعزير حق العبد غالب فيه فيجوز فيه الابراء والعفو (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب التعزير ج۳ ص۲۵۷. ط. س. ج۴ ص۷۳). ظفير

([2]) سورة البقرة : رکوع : ۲۲. ظفير

([3]) ځکه چي دلته اسلامی حکومت نسته: لانه لاحد فی دارالحرب (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار کتاب الحدود ج۳ ص۱۹۵. ط. س. ج۴ ص۵). ظفير

نه معلوميږي اوچه كله مضروب په شرعي فيصله باندي راضي نه سو نو دا هغه دحق څخه تجاوز وكی اوس ده يا دده طرف دارو ته څه حق دي چه دآزادي پركوشش كوونكو باندي اعتراض وكړي اوپر هغوی باندي طعن وكړي، الحاصل دقانوني سزا څخه (چه من وجه بلكه من كل الوجه ظلم دي اوپه ومن لم يحكم بما انزل الله كي داخل دي) دبچ كولو كوشش كوونكو ددي ايتونو په وعيد كي داخلول چه دكفارو محاربينو دالله تعالي او محاربينو درسول ﷺ په باره كي دي صحيح نه دي. فقط

دښځي اوخاوند په جګړه كي مالي جرمانه شرعًا درسته نه ده: **سوال**: (۳۴) زيد دخالد دلور زبيدي سره نكاح وكړه او زيد دخالد څخه دنكاح په وخت دا اقرار وليكی چه زه خپله منكوحه دخپل خسر خالد دښار اوكور څخه بهر ته نه بيايم ماته دبيولو حق نسته هغه چي چيري وغواړي دهغی خرچ او خوراك به زه وركوم اوس زيد خپله منكوحه بهر ته بيولي سي اوكه نه؟ او زيد دا اقرار هم تحرير كړی كه چيري ما پرخپله منكوحه زبيده باندي دويمه نكاح وكړه نو پنځه سوه روپۍ به سركار ته جرمانه ادا كوم دزيد په بل نكاح كولو باندي جرمانه وركول او اخيستل شرعًا درست دي اوكه نه؟

جواب: بهتره دا ده كه چيري خاوند ته هلته په اوسيدوكي او خپله بي بي په هلته ساتلو كي څه عذر او حرج نه وي نو دحديث شريف په حكم سره چي: احق الشرط ان توفوا به ما استحللتم به الفروج، (۱) خپله وعده او شرط دي پوره كړي ليكن كه چيري هغه خپله بي بي رخصت كړي او بوېي زي نو پرده باندي څه مواخذه نسته او ده ته ددي حق دی كما قال الله تعالي: الرجال قوامون علي النساء (۲) عهدنامه يوه وعده ده اوكه چيري خاوند ته څه عذر نه وي نو دهغه پوره كول بهتر دي اوكه چيري هغه خپل وطن ته بوزي نو داهم جائز دي او خاوند ته ددي حق دی او پنځه سوه روپۍ اخيستل دده څخه په صورت دنكاح ثاني كي درست نه دي ځكه چه دا شرط جائز نه دي (۳) او مالي جرمانه شرعًا درست نه ده.

مسلمان ته حرامزاده ويل حرام دي: **سوال**: (۳۵) مسلمان ته حرامزاده ويل او لعنت پركول څنګه دي اوپه شريعت كي ددي څه وعيد دي؟

جواب: حرام دي او په احاديثو كي پردي باندي وعيد راغلی دی. (۴)

---

(۱) مشكوة باب اعلان النكاح ص ۲۷۱. ظفير

(۲) سورة النساء، ركوع: ۲. ظفير

(۳) لاباخذ المال فی المذهب (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب التعزير ج۳ ص۲۴۲. ط. س. ج۴ ص۶۱). ظفير

=

ښځه که چیري دخاوند حکم ونه مني نوڅه سزا به ورکول کیږي؟ **سوال**: (۳۶) که زنانه دخاوند دسختئ باوجود دبي پردې ګرزیدو څخه منع نه سي نو ددي دپاره څه سزا ده؟

جواب: زنانه چه کله خپل خاوند دبي پرده ګرزیدو څخه منع کوي او هغه نه منع کیږي نو خاوند دالله تعالي په نزد دګناه څخه خلاص دي او زنانه ګناهګاره ده (دسړي فرض دي چه په سختئ سره یې منع کړي او تنبیه ورکړي خاوند ته دتعزیر حق سته ([1]) ظفیر). فقط

پرمسلمان باندې ددروغو الزام لګول حرام دي: **سوال**: (۳۷) دیوه مسلمان پربل مسلمان باندي ددروغو الزام لګول څنګه دي او دالزام لګونکي دپاره څه حکم دي؟

جواب: پریو مسلمان باندي ددروغو الزام لګول حرام دي تهمت لګونکي فاسق دی توبه دي وکړي او معافي دي ورڅخه وغواړي که نه نوداخرت په عذاب کي به ګرفتار سي ([2])، فقط والله تعالي اعلم.

دحجت شرعیه څخه بغیر دزنا تهمت لګول فسق دي: **سوال**: (۳۸) دیو استاد او شاګرد ترمینځ څه مخالفت راغی نو استاد دشاګرد په ضرر پسي سو پرهغه یې دزنا تهمت بغیر دحجت شرعیه څخه ولګوی اوپه ښکنځلو بدرد او فواحشو سره مخ ته راغی نو پراستاذ باندي حد قذف سته یا تعزیر واجب دي اوکه نه؟

جواب: بدرد ویل اودزنا تهمت او دفواحشو تهمت پریومسلمان باندي لګول بغیر دحجت شرعیه څخه فسق دی او دتعزیر موجب دي: وعزر کل مرتکب منکر او مؤذی مسلم بغیر حق بقول او فعل الخ درمختار ([3]) وزاد بعضهم ان الحد مختص بالامام والتعزیر یفعله الزوج والمولی وکل من رای حسداً یباشر المعصیة الخ شامی. ([4])

([1]) کل من ارتکب منکراً وآذی مسلماً بغیر حق بقول او فعل او اشارة یلزمه التعزیر (ردالمحتار باب التعزیر ج۳ ص۲۵۵. ط. س. ج۴ ص۲۲). ظفیر

([1]) ویقیمه (ای التعزیر کل مسلم حال مباشرة المعصیة واما بعده فلیس ذلك لغیر الحاکم والزوج والمولی (درمختار) ای التعزیر الواجب حقا لله تعالی لانه من باب ازالة المنکر قال صلی الله علیه وسلم من رای منکم منکراً فلیغیره بیده فان لم یستطع فبلسانه الحدیث (ردالمحتار باب التعزیر ج۳ ص۲۵۰. ط. س. ج۴ ص۲۵) یعزر المولی عبده والزوج زوجته ولو صغیرة علی ترکها الزینة الشرعیة وترکها غسل الجنابة وعلی خروج من المنزل لو بغیر حق (درمختار) اشار الی ان تعزیر الزوج لزوجة لیس خاصا بالمسائل الاربعة المذکوره فی المتون ولذا قال فی الولوالجیة له ضربها علی هذه الاربعة وما فی معناها (ردالمحتار باب التعزیر ج۳ ص۲۲۰. ط. س. ج۴ ص۷۷). ظفیر

([2]) قال رسول الله صلی الله علیه وسلم لا یرمی رجل بالفسوق ولایرمیه بالکفر ارتدت علیه ان لم یکن صاحبه کذالك رواه البخاری (مشکوة باب حفظ اللسان ص۴۱۱). ظفیر

([3]) الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب التعزیر ج۳ ص۲۵۱. ط. س. ج۴ ص۲۲. ظفیر

([4]) ردالمحتار باب التعزیر ج۳ ص۲۴۵. ط. س. ج۴ ص۲۲. ظفیر

سیاسة اوتهدیداً جرمانه څنګه ده؟ سوال: (۳۹) هنده دزید بي بي منکوحه وه دهندي عفت اودیانت اطاعت او خانه داري وغیره په پوره طریقه سره ثابت دي زید دبي وسی په وجه صرف دنفقی ادا کولو څخه دځان ژغورلو دپاره او دهندي دخپل میراث څخه دمحروم کولو دپاره هندي ته طلاق ورکړي دي نوآیا اعلی حضرت شاه دکن داسلام دحکم منلو په حیثیت او دحاکم السیاست کیدو په زید باندي عبرتًا او سیاستًا او تهدیداً جرمانه یا څه سزا دوخت او دحالاتو په مناسبت سره نافذ کولي سي؟ چه آئنده عبرتًا ظالمو خاوندانو ته جرأت نه وي چه دوی دمظلومو پاکو او کمزورو زنانو شرعي حقوق په خپلو نفساني اغراضو سره په شرعي حیلو دتلف کولو په طرف تقدیم وکړي، آیا داسي تعزیر او تنبیه محظور او ممنوع شرعي نه دي او آیا ناظم صاحب دارالقضاء دشاه دوخت په ملاحظه اوساطعه کي انتظامًا څه تعزیر او تهدید دجرماني په شان وغیره ټاکلي سي اوکه نه؟

جواب: دآیتونو اواحادیثو دنصوصوڅخه دطلاق مباح کیدل ثابت دي، ددي وجي صاحب ددرمختار اباحت او حظر نقل کړي دي صحیح یې اباحت قرار ګرځولی دی حیث قال: وایقاعه مباح عند العامة لا طلاق الایات وقیل قائله الکمال الاصح حظره ای منعه الا لحاجة کریبة وکبر والمذهب الاول کما فی البحر (۱) البته دصاحب دردالمحتار یعني دشامي دتحقیق څخه معلومیږي چه دي دصاحب دفتح القدیر کمال ابن الهمام رحمه الله قول راجح ګڼي چه اصل په طلاق کي حظر دی اوبغیر دڅه وجي ددي ارتکاب محظور او ممنوع دي، حیث قال: وأما الطلاق فإن الأصل فیه الحظر بمعنی أنه محظور إلا لعارض یبیحه وهو معنی قولهم الأصل فیه الحظر والإباحة للحاجة إلی الخلاص فإذا کان بلا سبب أصلا لم یکن فیه حاجة إلی الخلاص بل یکون حمقا وسفاهة رأي ومجرد کفران النعمة وإخلاص الإیذاء بها وبأهلها وأولادها الی ان قال: فحیث تجرد عن الحاجة المبیحة له شرعا یبقی علی أصله من الحظر ولهذا قال تعالی { فإن أطعنکم فلا تبغوا علیهن سبیلا } أي لا تطلبوا الفراق وعلیه حدیث { أبغض الحلال إلی الله الطلاق } قال في الفتح ویحمل لفظ المباح علی ما أبیح في بعض الأوقات أعني أوقات تحقق الحاجة المبیحة اه الخ شامی (۲) جلد ثاني، نوبناءاً علیه که چیري داسي موذي سړي چه بغیر دڅه وجي شرعي څخه صرف دایذا رسانی دپاره طلاق ورکول خپل عادت مقرر کړي داسلامي حاکم دطرف څخه که دده دپاره څه تهدید اوتوبیخ وي نو هغه به مستحسن وي

---

(۱) الدرالمختار علی هامش ردالمحتار کتاب الطلاق ج۲ ص۵۷۱. ط. س. ج۳ ص۲۲۷. ظفیر
(۲) وګورئ ردالمحتار للشامی کتاب الطلاق ج۲ ص۵۷۲. ط. س. ج۳ ص۲۲۷. ظفیر

اوشرعي قاضي که چیري مناسب وګڼي نو څه تعزیر داسي سړي ته ورکول کیږي. فقط

مسلمان ته ښکنځل کول او طعن او تشنیع کول: **سوال**: (۴۰) زید بغیر دڅه قصور څخه عمرو ته ښکنځل وکړل او دا يې وويل چه ته مسلمان نه يې او دمسلمانۍ په تا کي څه علامه ده بلکه ستاسو په ټول ځای کي مسلمان نسته او حالانکه اکثره آبادي دمسلمانانو ده چه په هغه کي بعضي علماء هم دي نو آیا په داسي صورت کي پرزید باندي به تعزیر واجب نه وي اوپه ده پسي اقتداء هم جائز ده اوکه نه؟

جواب: زید په دي صورت کي ظالم او فاسق دی: سباب المسلم فسوق وقتاله کفر ([1]) یعني مسلمانانو ته ښکنځل کول فسق دي او دهغه سره جنګ کول دنعمت ناشکري ده یا دمسلم سره جګړه کول حلال ګڼل کفر دی اوکه چیري مراد ددغه سړي په حقیقت کي مسلمانانو ته بي ایمانه او کافر ویل وي نو په دي کي دده دکفر بیره ده لکه څنګه چه په حدیث شریف کي راغلي دي چه کم سړی یو مسلمان ورور ته کافر ووایي نو دغه کفر یا دهغه ګناه پرهم ده ورواپس کیږي ([2]) الغرض زید ته اوس توبه ایستل په کار دي اوکله هم داسي کلمه دزبان څخه نه دي ایستل په کار باقي دتعزیر حد داسلامي حکومت دعدم وجود په وجه په دي زمانه کي نه سي جاري کیدي. ([3]) فقط

داسپي سره جماع دهغې سزا اود اسپي حکم: **سوال**: (۴۱) چه کم سړي داسپي سره زنا وکړي هغه ته څه سزا ورکول په کار دي او ددغه اسپي سره څه به کول کیږي ؟

جواب: اسپه دي ذبح سي اوودي سوزول سي اودغه سړي ته دي تعزیر ورکړل سي. ([4])

دتره دښځې سره په نکاح کولو کي مالي جرمانه جائز نه ده: **سوال**: (۴۲) بکر او خالد دنکاح ګواهانو په دي جرم کي چه دوی دتره دښځي سره نکاح وکړه جرګې جرمانه کړل دا جائز دي اوکه نه؟

جواب: پربکر او خالد باندي شرعًا دنکاح مذکوره په ګواه کیدو سره څه جرم اوګناه نه عائد کیږي پرده او زید باندي چه کمه جرمانه لګول سوي ده هغه ناجائز ده دغه جرمانه

([1]) مشکوة شریف باب حفظ اللسان ص۴۱۱. ظفیر

([2]) قال النبی ﷺ ایما رجل قال لاخیه کافر فقد باء بها احدهما متفق علیه (مشکوة باب حفظ اللسان ص۴۱۱).

([3]) لانه لا حد فی دارالحرب (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار کتاب الحدود ج۳ ص۱۹۵. ط. س. ج۴ ص۵) په دې کي شك نسته چي دا ډول کلمات ویونکی دتعزیر لایق دی: فیعزر بشتم ولده الخ ویقذف مسلم بیا فاسق الخ وعزر الشاتم بیا کافر هل یکفر ان اعتقد المسلم کافرًا نعم والا لا به یفتی (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب التعزیر ج۳ ص۲۵۲ – ۲۵۳. ط. س. ج۴ ص۲۷). ظفیر

([4]) ولا یحد بوطئ بهیمة بل یعزر وتذبح ثم تحرق ویکره الانتفاع بها حیة ومیة (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب الوطؤ الذی یوجب الحد وما لا یوجب ج۳ ص۲۱۳. ط. س. ج۴ ص۲۲). ظفیر

هغه ته واپس ورکول کیدل په کار دي. ([1])

که څوک خپله بي بي ووهي نو دهغې سزا: **سوال**: (۴۳) یو سړي خپله بي بي ووهله او تړډیر لیري پوري یې دسر تروریښتاتو ونیوله او په لڅ بدن یې را کشوله داسړی ظالم دي اوکه نه؟ او دده دپاره شرعًا څه حکم دي دده سره متارکت په کار دي اوکه نه؟

جواب: داسي سړی ظالم دي بي شکه که چیري توبه یې ونه ایسته نو دکلي والا دي ده ته تنبیه ورکړي او خوراك څیښاك دي دده سره پریږدي چه آئنده داسي حرکت ونه کړي. ([2])

په هندوستان کې حدود شرعیه نه سي جاري کیدې تعزیر ورکول کیري: **سوال**: (۴۴) زید پرعمر باندي دزنا تهمت ولګوی او بیایې څلور ګواهان پیش نه کړل پرده دي باندي مولوي صاحب دحد قذف په بناء باندي مسلمانانو ته دده څخه داجتناب حکم ورکړی دا حکم صحیح دي اوکه نه؟ که چیري یو سړی دا ووایي چه موږ په دي حکم باندي عمل نه سو کولي ځکه چه مسلمان بادشاه موجود نه دي ددي څه حکم دي؟

جواب: دا صحیح دي چه په هندوستان کي دسلطنت اسلامي دنیستوالي په وجه هیڅ حد نه سي جاري کیدي ([3]) لیکن تنبیهًا او تعزیرًا داسي قسم خاندان ته سزا ورکول کیدي سي چه په دي سره مجرم ته تنبیه ورکړل سي او آئنده دداسي جرم مرتکب نه سي او دنورو خلقو دپاره هم عبرت سي. لهذا دا حکم ددغه مولوي صاحب مناسب دی په دي کی هیڅ ممانعت نسته او ددي منل په کار دي. فقط

چه څوک غل نه وي هغه ته غل ویونکي دتعزیر مستحق دي: **سوال**: (۴۵) یو سړی غل نه دی که چیري هغه ته غل ووایي نو پر ویونکي باندي شرعًا څه حد راځي؟

جواب: داسي سړي دتعزیر مستحق دي لیکن دا کار په امام سره مختص دی په دي زمانه کي ددي اجراء نه سي کیدي: وعزر الشاتم بیا کافر الخ ویا سارق الخ. ([4]) فقط

دبل سړي دبي بي دتښتــونکي او غائب کوونکي سزا: **سوال**: (۴۶) زید هنده وتښتوله او یو

([1]) فی البزازیة ان معنی التعزیر باخذ المال علی القول به امساك من ماله عند مدة لینزجر ثم یعیده الحاکم الیه لا ان یاخذ لنفسه او لبیت المال کما یتوهم الظلمة اذ لا یجوز لاحد من المسلمین اخذ مال احد بغیر سبب شرعی (ردالمحتار باب التعزیر مطلب فی التعزیر باخذ المال ج۳ ص۲۴۲. ط. س. ج۴ ص۶۱). ظفیر

([2]) وبهذا ظهر انه لایجب علی الزوج ضرر زرجته اصلا ادعت علی زوجها ضربا فاحشا وثبت ذلك علیه عزر (درمختار) قوله ضربا فاحشا قید به لانه لیس له أن یضربها فی التادیب ضربا فاحشا وهو الذی یکسر العظم ویخرق الجلد او یسوده کما فی التتارخانیة قال فی البحر وصرحوا بانه اذا ضربها بغیر حق وجب علیه التعزیر اهـ ای وان لم یکن فاحشا (ردالمحتار باب التعزیر ج۳ ص۲۲۲. ط. س. ج۴ ص۷۹). ظفیر

([3]) لانه لا حد فی دارالحرب (الدر المختار علی هامش ردالمحتار کتاب الحدود ج۳ ص۱۹۵ ط. س. ج۴ ص۵).

([4]) وګورئ الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب التعزیر ج۳ ص۲۵۳. ط. س. ج۴ ص۶۹). ظفیر

ځای یې پرېښووله او دا معلومه نه ده چه مړه سوي ده اوکه ژوندی ده دزید بیان دي چه هنده غائبه سوي ده ماته پته نسته چه چیري تللی ده ددغه زنانه خاوند او خاندن دا غواړي چه دوه سوه روپۍ واخلي او ددغه سړي جرم معاف کړي دغه سړي دوه سوه روپۍ دکلي مشر ته ورکړي دي لیکن دغه خلقو ته ونه رسیدي اوس هغوی دوه سوه روپۍ نوري غواړي زید دخپلي خطا څخه توبه ګار دي او هغه معافي هم غوښتي ده لیکن دا خلق یې نه مني آیا شرعًا دزید پرذمه دوه سوه روپۍ واجب دي اوکه نه او دده دا جرم چه دي معافي غواړي معاف کیدي سي اوکه نه؟

جواب: دشرعي حیثیت سره دزید پرذمه هیڅ جرمانه وغیره نسته چه کله دي دخپل قصور څخه تائب او پرخپل جرم باندي معافي غوښتونکي دي نو اوس خاندان ته پرده باندي دځه سختۍ کولو حق نسته قال علیه السلام التائب من الذنب کمن لا ذنب له (۱) لیکن په دي کي شبه نسته چه زید دکم شنیع فعل ارتکاب کړي دي په شرعي اوسیاسي حیثیت سره دده څخه دتعزیر اقتضا ده کما هو مصرح في کتب الفقه (۲) که چیري اسلامي حکومت واي نو دي دتعزیر مستحق وو لیکن اوس دا صورت نسته لهذا دتوبي څخه وروسته خاندان دي هم دده قصور معاف کړي لیکن دجرمانې څه شرعي حیثیت نسته. فقط

دمور سره دنکاح کوونکي سزا: **سوال**: (۴۷) که چیري یو سړی دخپلي مور سره نکاح وکړي نو دوطي کولو څخه وروسته پرده باندي تعزیر لازم دي اوکه نه؟

جواب: په حدیث شریف کي دي چه دمیریزې مور یعنی دپلار دبي بي سره پرنکاح کوونکي باندي تعزیر راغلی دي چه نبي ﷺ دهغه دقتلولو حکم فرمایلی وو. (۳) دا لاڅه کوی چه څوك دحقیقي مورسره داسي کار وکړي نو په درجه اولي دسخت تعزیر مستحق دي. (۴) فقط

---

(۱) والحاصل ان المذهب عدم التعزیر باخذ المال (ردالمحتار باب التعزیر ج۳ ص۲۵۳. ط. س. ج۴ ص۲۹). ظ

(۲) خدع المرأة انسان واخرجها وزوجها یحبس حتی یتوب لسعیه فی الارض بالفساد (درمختار) قوله حتی یتوب او یموت عبارة غیره حتی یردها وفی الندیه وغیرها قال محمد احبسه ابدا حتی یردها او یموت (ردالمحتار باب التعزیر ج۳ ص۳۲۴. ط. س. ج۴ ص۸۱). ظفیر

(۳) عن البراء بن عازب قال مر بی خالی ابوبرده ومعه لواء فقلت این تذهب قال بعثنی رسول الله صلی الله علیه وسلم الی رجل تزوج امراة ابیه فامرنی ان اضرب عنقه واخذ ماله رواه الترمذي والنسائی (مشکوة باب المحرمات ص۲۷۴). ظفیر

(۴) کل مرتکب معصیة لاحد فیها فیها التعزیر (الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب التعزیر ج۳ ص۲۵۱. ط. س. ج۴ ص۲۷). ظفیر

داحنافو په نزد دمالي جرمانه نه جائز کیدو دلیل: **سوال**: (۴۸) داحنافو په نزد دمالي جرماني دعدم جواز څه دلیل دي؟ دګناه کبیره کونکي څخه دجرماني په طور چه خاندان والا څه اخلي هغه دګناه جرمانه نه ده، دګناه جرمانه خو صرف توبه ده دا مالي جرمانه ددي امر ده چه مجرم چه دخاندان څخه جدا کړل سوي وو اوس يې توبه ایستلي ده او په خاندان کي داخلیدل غواړي نو خاندان والا يو رقم په خپل خاندان کي دداخلیدو دپاره تجویز کړي خپله يې اخلي او چه په کم مصرف کي يې غواړي صرف کولي يې سي دا جائز دي یا ناجائز؟ که چیري جائز نه دي نوکه چیري دمجرم څخه په يو ښائسته مصرف کي دغه تجویز کړل سوي رقم خرچ کړه سي نو جائز دي اوکه نه؟

جواب: په درمختار باب التعزیر کي دي: لا باخذ المال فی المذهب بحر وفیه عن البزازیه وتمیل یجوز معناه ان یمسکه مدة لینزجر ثم یعیده له فان یئس من توبة صرفه الی ما یری وفی المجتبی انه کان فی إبتداء الاسلام ثم نسخ (۱) حاصل دا دي چه اوس مالي جرمانه جائز نه ده که چیري دزجر او تنبیه په غرض سره واخیستل سي نو بیا دي هغه واپس کړي او چه کم ته فیس ویل کیږي هغه هم په دي جرمانه کي داخل دي او ناجائز دي او که چیري مجرم دزړه په خوشحالۍ بغیر دڅه زور او اکراه څخه په يو مصرف کي دغه رقم خرچ کړي نو جائز دي لیکن چي دهغه پوره اختیارمند کیدل او مالك کیدل ورته واورول سي بیا دهغه خوښه ده که دخپل ځان سره يې ساتي اوکه په مصرف کي يې صرف کوي. فقط

دجرماني رقم به واپس ورکول کیږي: **سوال**: (۴۹) دیو سړي څخه په بورډنګ کي ددي وجي مالي جرمانه واخیستل سوه چه ده پروخت مقرره باندي دخوراك پیسی نه دي ادا کړي نو جرمانه اخیستل درست دي اوکه نه؟

جواب: مالي جرمانه شرعًا صحیح نه ده اوکه چیري دجرماني رقم واخیستل سي نو هغه واپس کول په کار دي. (۲)

دامام اعظم رحمه الله په نزد مالي جرمانه: **سوال**: (۵۰) (۱) چه کمي دعوي دجرګي څخه فیصله کیږي چه دچا قصور وي په دي باندي خاندان والا جرمانه کول جائز دي اوکه نه؟ (۲) دا جرمانه په مسجد کي خرخول جائز دي اوکه نه؟ (۳) که چیري ددغه جرماني څخه اوبو ډکوونکي ته اجرت ورکړل سي نو په دغه اوبو اودس کول درست دي اوکه نه؟ (۴)

---

(۱) الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب التعزیر ج۳ ص۲۴۲، ط.س. ج۴ ص۷۱. ظفیر

(۲) لاباخذ المال فی المذهب وفیه عن البزازیه وقال یجوز ومعناه ان یمسکه مدة لینزجر ثم یعیده له (الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب التعزیر ج۳ ص۲۴۲. ط. س. ج۳ ص۲۱). ظفیر

پرېږي نمازه باندي جرمانه لګول جائز دي اوکه نه؟ که چیري ناجائز وي نو پر بي نمازه به څه دباؤ اچول کیږي چه هغه په لمونځ کولو باندي مجبوره سي؟

جواب: (۱، ۲، ۳) مالي جرمانه لګول یې دامام صاحب رحمه الله په مذهب کي ممنوع لیکلي دي او امام ابو یوسف یې دزجر او تنبیه په وجه جائز ګڼي ([1]) لیکن ددي مطلب دا دي چه وروسته به دا ورکول کیږي یابه دده په اجازت او خوشحالی سره په یونیك کار مسجد وغیره کي خرچ کړل سي. نوکه چیري داسي وي نو په دغه اوبو اودس کول درست دي (۴) بي نمازه دي داسي مجبوره کړل سي چه هغه دبي نمازی څخه منع سي مثلاً دا چه دهغه سره بالکل تعلقات پرېښودل سي او هغه دخاندان څخه وایستل سي او تعزیر ورلره ورکړل سي.

<u>په توبي سره ګناه معاف کیږي</u>: **سوال:** (۵۱) که چیري یو سړي دحیوان سره زنا وکړي او بیا توبه وباسي نو ګناه به یې معاف سي اوکه نه؟

جواب: په توبي سره به دغه ګناه معاف سي آئنده دي داسي نه کوي. ([2])

<u>دتعزیر مختلف صورتونه</u>: **سوال:** (۵۲) یو ګناهګار ته دا سزا ورکول کیدي سي چه دسلام او کلام دپرېښودلو څخه علاوه دهغه څخه اخیستل او خرڅول هم بند کړل سي چه هغه ته دیوي پیسی ګټه هم ونه رسیږي؟

جواب: تعزیرات دمصالحو مطابق په مختلفو طریقو سره کیږي او غرض دا دي چه ده ته دآئنده دپاره نصیحت سي. او دنورو دپاره عبرت ځکه چه دلمانځه په پرېښودلو باندي دده ترقتلولو پوري او ترغره راغورزولو پوري دسزا ورکولو اجازت دي او حکم دي او دغور ځای دي چه کله دیو سړي سره متارکت او دمقاطعت حکم دڅه ګناه دوجي وسي نو ددي مطلب دا دي چه دهغه یعني تارك سره به نه معامله کوي او نه به سلام اوکلام کوي نه به اخیستل او خرڅول کوي او هر یو مسلمان ددي مخاطب دي بیا اعتراض پرڅا باندي دي چه څوك وګمارل سي اوهغه خپل فرض ادا کوي: ولا تجالسوهم ولا تناکحوهم وغیره الفاظ په حدیث کي دي چه داهل اهواء په باره کي وارد سوي دي. ([3]) فقط

([1]) لا باخذ المال فی المذهب قال فی الفتح عن ابی یوسف یجوز التعزیر للسلطان باخذ المال وعندهما وباقی الائمة لا یجوز اهـ وظاهر ان ذلك روایة ضعیفة عن ابی یوسف قال فی الشرنبلالیة ولا یفتی بهذا لما فیه من تسلیط الظلمة علی اخذ مال الناس لیاکلو نه اهـ (ردالمحتار باب التعزیر ج۳ ص۲۳۲ ط. س. ج۴ ص۲۱). ظفیر

([2]) التائب من الذنب کمن لا ذنب له (مشکوة شریف). ظفیر

([3]) والتعزیر لیس فیه تقدیر الخ ویقیمه کل مسلم حال مباشرة المعصیة الخ (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب التعزیر ج۳ ص۲۴۷ – ۲۵۰. ط. س. ج۴ ص۲۲). ظفیر

دښکنځلو کولو سزا: سوال: (۵۳) پر ښکنځل کوونکي باندي شرعي الزام لګیدي سي او که نه؟

جواب: دي ګناه ګاریږي توبه دي وکړي او چاته چه یې ښکنځلی کړي دي دهغه څخه هم معافي غوښتل ضروري دی. (۱)

تعزیر دعامو مسلمانانو حق دی اوکه نه؟ سوال: (۵۴) په عالمګیري رد المحتار وغیره کي دي چه دګناه دارتکاب څخه وروسته صرف قاضي ته دتعزیر اختیار دي هر سړي ته نه، نو دمقاطعت او متارکت مجاز هر سړی هر وخت څنګه کیدي سي؟

جواب: اصل دا دي چه ددې جمله: ولا تجالسوهم ولا تناکحوهم مخاطب عام مسلمانان دي په دي کي دقاضي او حاکم تخصیص نسته دا دامر بالمعروف او نهي عن المنکر دقبیلی څخه دی او ددې څخه علاوه چه کله قاضي او مسلمان حاکم نه وي نو بیا دزورني صورت ددې څخه علاوه بل څه کیدي سي چه اهل اسلام اتفاق وکړي چه دمجرم دهغه دجرم څخه دمنع کولو کوشش وکړي.

علماء حق ته دخنزیر ویلو والا فاسق دی: سوال: (۵۵) که چیري یو سړي ددین علماؤ ته خنزیر ووایي نو په شریعت کي دده دپاره څه تعزیر دي؟

جواب: دغه سړي فاسق دي توبه دي وباسي. (۲)

دچماري یعني دموچي دښځي سره خلوت ساتلو والا کافر نه دی ګناهګار دی: سوال: (۵۶) یو سړي یوه چماري پنځه میاشتي په خپل کور کي وساتله او خلوت یې ورسره وساتی په دغه وخت کي پردواړو باندي مقدمه قائمه سوه او چماري دچماریانو سره یوځای سوه او دغه مذکوره سړي او دهغه وررور یو ځای خوراك وکی نو دغه سړي او دهغه وررور دواړه مسلمانان دي اوکه کافر سول دلته ددغه سړي څخه مسلمانانو پنځه روپۍ تاوان اخیستی او په مسجد کي یې داخلي کړي دي، دا جائز دي اوکه ناجائز؟

جواب: هغه سړي چه دچماري سره یې خلوت ساتلي دي هغه ګناهګار سو توبه دي وباسي او دي کافر نه سو مسلمان دي او دده وررور هم مسلمان دي صرف دغه سړي لره توبه ایستل په کار دي او لمونځ اوروژه نیول ورلره په کار دي او هغه روپۍ چه دتاوان

---

(۱) وعزر کل مرتکب منکراً او موذی مسلم بغیر حق بقول او فعل (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب التعزیر ج۳ ص ۲۵۱. ط. س. ج۴ ص۶۲). ظفیر

(۲) لا بیاحمار یا خنزیر الخ واستحسن فی الهدایه التعزیر لو المخاطب من الاشراف وتبعه الزیلعی وغیره (درمختار) ذکر فی شرحه علی الملتقی ایضا انه لو علی وجه المزاح یعزر فلو بطریق الحقارة کفر لان اهانة اهل العلم کفر علی المختار (ردالمحتار باب التعزیر ج۳ ص۲۵۵ - ۲۵۶. ط. س. ج۴ ص۷۱). ظفیر

په نوم دده ځخه اخيستل سوي دي ورته واپس کول په کار دي دا اخيستل درست نه وه، ليکن که چيري هغه يې اوس په خوشحالۍ سره په مسجد کي ورکړي نو په مسجد کي خرڅول ددي درست دي او دتوبي ځخه وروسته ددغه سړي سره خوراك ځيښاك كول درست دي. فقط

پر يوه مسلمان باندي دغلطي مقدمي کولو حکم: سوال: (۵۷) يو پښتون چه په برطانيه کي دمجسټريټۍ په سرکاري عهده باندي ملازم دي دروژي او لمونځ پابند نه دي دجماعت او جمعې دلمانځه تارك دى دېري خريلو عادتي او دزنا او شرابو ځخه ځان نه ساتونکي عياش غرور پسند او بي مروت دي نو ده پريوه سيد نجيب الطرفين رئيس باندي چه دلمانځه روژي او دشريعت تابعدار دي په داسي طريقه په عدالت کي دعوه دائره کړه چه سيد ممدوح ماته په يو مجلس کي منافق بي ايمانه، شيطان ويلي دي، په دغه الفاظو سره زما په عزت او شهرت داغ لګيدلى دى ددي وجي استدعا ده چه ډګري دلس روپې سره دخرچې په حق دمدعي کي په خلاف دمدعا عليه صادري کړل سي. دسيد ممدوح جواب دي چه بي ايمانه خو مانه دي ويلي دا دمدعي افتراء ده ځکه چه دمدعي زما سره دښمني ده ددي وجي زما دنژدي رشته دار تلاشي يې وکړه او هغه بي کار ثابته سوه دتحقيقاتي کميټۍ په مجمع کي زما پر راتګ باندي مدعي زما پر زنګنونو باندي لاس کښيښودي په خنده رويي سره يې ماته لاس رامخکى کړى ما لاس نه دي ورکړي او ورته مي وويل چه بس ته دوه مخي ښه نه ده، زما په دي وينا باندي مدعي په اور لګوونکي لهجه کي ترټنه وکړه او وې ويل چه يو شيطان او منافق تلاشي کړيده ما ددي په جواب کي دده ويل سوي الفاظ په داسي طريقه وويل چه ته په خپلي خُلې سره منافق جوړ سوي يا شيطان يا چه هرڅه جوړيږي خو تلاشي تا کړي ده او بس په دي باره کي شرعي فيصله څه ده؟

جواب: که چيري په مقذوف کي دا امور موجود وي چه په پوښتنه کي درج دي نو ددي قاذف مستحق دتعزير نه دي کما في الدر المختار: وبقذف مسلم بيا فاسق الا ان يکون معلوم الفسق کمکاس مثلاً (۱) بلکه په دي امورو سره خپله پرده باندي تعزير دي ځکه چه مسلمان ته په ناحقه تکليف رسول په ژبه يا په څه کار سازئ سره او دشراب خورئ په مجلس کي حاضريدل او دشرابو لوښي او لوازم دخپل ځان سره اېښول، يا درمضان شريف په ورځوکي دورځي لخوا دخپل ځان سره ناشته اونورداسي شيان ساتل هم موجب

(۱) الدرالمختار على هامش ردالمحتار باب التعزير ج۳ ص۲۵۱ – ۲۵۲. ط. س. ج۴ ص۲۷). ظفير

دتعزير دي، كما في الدر المختار والشامي وعزر كل مرتكب منكر او مؤذی مسلم بغير حق بقول او فعل الخ ويعزر من شرب الشاربين الخ ([1]) ج۳ ص۱۸۷. فقط

دجادو كوونكي حكم او ددي ثبوت: **سوال**: (۵۸) دوه كسانو په يو سړي باندي جادو وكی دغه سړي وفات سو ليكن عامل صاحب وايي چه اوس په دغه جادو كوونكو باندي جادو كول دشرعي څخه خلاف دي شرعًا په دي باره كي څه حكم دي؟

جواب: په دي صورت كي ددغه عامل صاحب وينا چه دا دشرع څخه خلاف ده صحيح ده ځكه چه په شرعي قاعدي سره ثبوت ددي امر ونه سو چه دغه سړي جادو كړي دي ځكه چه شرعي قاعده دثبوت دا ده چه يا دغه جادوگر خپله اقرار وكړي يا ددؤ معتبرو گواهانو په شهادت سره ددي كيدل ثابت سي په شامي كي منقول دي: قال ابو حنيفة الساحر اذا اقر بسحره او ثبت بالبينة يقتل ويستتاب منه ([2]). فقط

دخنزير اوسپي بچي ويونكي قابل تعزير دي نكاح نه فسخ كيږي: **سوال**: (۵۹) يو سړي دخپل استاد په داسي طريقه سپكاوی وكی چه ته دخنزير زوی يې يا دسپي زوی يې ددي الفاظو ويونكي دپاره څه حكم دي نكاح يې قائمه ده اوكه نه؟

جواب: مذكوره سړي فاسق، گناهگار او واجب التعزير دي ([3]) هر څه چه تكفير دي نو تكفير به يې نه سي كيدي او حكم دفسخ دنكاح وغيره احكام دارتداد پرده نه سي جاري كيدي. فقط

په واده كي دخلاف شرع امورو كولو والا حكم: **سوال**: (۶۰) يو سړي په هغه رسمونو باندي چه دواده په خوشحالۍ وغيره كي دشرع څخه خلاف مروج دي اصرار كوي او دكورنۍ مقرر كړل سوي جماعت دی دخلاف كارونو څخه منع كوي اوهر امكاني كوشش كوي ليكن دي نه منع كيږي لهذا دداسي سړي متعلق څه شرعي سزا كيدي سي؟

جواب: چه كم امور په واده او ښادۍ كي خلاف شرع مروج دي هغه ټول منكر دي په دي شرط چه خلاف شرع وي، او منكراتو مكتسب ته شرعًا دتعزير سزا وركړل كيږي كما فی الدرالمختار: وعزر كل مرتكب منكراً وموذی مسلم بغير حق بقول او فعل الخ ([4]) دهر يوه مرتكب دمعصيت دپاره تعزير دی كم شخص چي پرخلافِ شرع كارونو باندي اصرار

([1]) ردالمحتار باب التعزير ج۳ ص۲۵۱. ط. س. ج۴ ص۶۲. ظفير

([2]) لايعزر بيا حمار يا خنزير ياكلب واستحسن فی الهداية التعزير والمخاطب من الاشراف وتبعه الزيلعی وغيره (درمختار) وقيل فی عرفنا يعزر لانه يعد شنيعًا (ردالمحتار باب التعزير ج۳ ص ۲۵۵. ط. س. ج۴ ص۷۱). ظ

([3]) وگورئ: ردالمحتار باب المرتد مطلب فی الساحر والزنديق ج۳ ص۴۰۸. ط. س ج۴ ص۲۴۰. ظفير

([4]) الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب التعزير ج۳ ص۲۵۱. ط. س. ج۴ ص۶۲. ظفير

کوي هغه ته خپل خاندان تعزيراً سزا ورکولي سي. ددي وجي چه دمعصيت په وخت کي دهغه په وړاندي پټه خوله کيدل ګناه ده، هر مسلمان ته حق سته چه تعزير قائم کړي: کما فی الدرالمختار: ويقيمه کل مسلم حال مباشرة المعصية تنبيه واما بعده فليس ذالك بغير الحاکم والزوج والمولى الخ [۱] يعنی حقوق الله کما حمل عليها فی الشامی عبارة القنية المارة آنفا [۲] دهر معصيت دارتکاب په وخت هر مسلمان دمعصية پرمرتکب باندي دتعزير قائمولو مجاز دي. الخ وفی الشامی الفرق بين الحد والتعزير ان الحد مقدور التعزير يجب معها وان الحد لايجب على الصبی والتعزير شرع عليه والرابع ان الحد يطلق على الذمی والتعزير يسمى عقوبة له لان التعزير شرع للتطهير تاتارخانيه وزاد بعض المتاخرين ان الحد مختص بالامام والتعزير يفعله الزوج والمولى وکل من رأى احداً يباشر المعصية [۳] ج۳ ص۱۹۳، او دمعصيت دختميدو څخه وروسته هم خاوند او مولي دارنګه پلار په خپل ذريعه تعزير ورکولي سي. او تعزير دمجرم او جرم دحيثيت موافق مختلف صورتونه قائميدي سي. په يوه صورت کي بندول په بل کي قتلول په بعضو کي صرف دتنبيه وغيره په ذريعى سره قائم کيدي سي [۴] په تعزير بالمال کي اختلاف دي چه څوك دجواز قائل دي هغوی ددي معني دا وايي چه دهغه څخه به مال واخلي او دخپل ځان سره به يې ترهغه وخته پوري کښيږدي چه دغه مجرم تائب سي. چه کله هغه تائب سو او ددغه جرم په ارتکاب کي بالکل بند سو نو دغه جرمانه په نورو کارونو کي خرچ کولي سي. کما فی الدرالمختار لا باخذ المال فی المذهب بحر وفيه عن البزازيه وقيل يجوز ومعناه ان يمسکه مدة لينزجر ثم يعيده له فان يئس من توبته صرفه الی ما يرى وفی المجتبی انه کان فی ابتداء الاسلام ثم نسخ [۵]. فقط

په پردي باندي عمل نه کولو والا ديوث دي: **سوال**: (۲۱ الف) يو سړى باوجود دپوهه کولو هم په پردي باندي عمل نه کوي او دخپل کور انتظام نه کوي نو دداسي سړي متعلق شريعت مطهره څه سزا تجويز کوي؟

جواب: داسي سړي ته شرعًا ديوث ويل کيږي چه دتعزير مستحق دي کمافی الدرالمختار. [۶]

---

[۱] الدر المختار على هامش ردالمحتار باب التعزير ج۳ ص۲۵۰. ط. س. ج۴ ص۶۵. ظفير

[۲] قوله ويقيمه الخ ای التعزير الواجب لله تعالى لانه من باب ازالة المنکر (ردالمحتار باب التعزير ج۳ ص۲۵۰. ط. س. ج۴ ص۶۵. ظفير

[۳] ردالمحتار باب التعزير ج۳ ص۲۳۷. ط. س. ج۴ ص۶۲. ظفير

[۴] تاديب دون الحد الخ ويکون به وبالحبس بالصفع على العنق وفرك الاذن وبالکلام العنيف الخ (الدر المختار على هامش ردالمحتار باب التعزير ج۳ ص۲۴۲. ط. س. ج۴ ص۶۰). ظفير

[۵] الدرالمختار على هامش ردالمحتار باب التعزير ج۳ ص۴۲. ط. س. ج۴ ص۶۱. ظفير　=

داسي سړي دتعزير مستحق دي: **سوال**: (۲۱ب) بعضي خلق ددنيوي عار يا دخپلي خود غرضۍ يا دذاتي مفادو په وجه سرتابي کوي دداسي خلقو دپاره شرعًا څه سزا ده؟

جواب: دا سړي هم دتعزير مستحق دي کما مر في: وعزر کل الخ ([1]) دواړه سخت دتعزير مستحق دي کما في الدر المختار. فقط

دچا دبي بي دتښتونکي او خرڅونکي سزا: **سوال**: (۲۲) يو سړي دچا بي بي وتښتوله او خرڅه يې کړه شريعت دبائع او مشتري دپاره څه سزا تجويز کوي او دمشتري چه اولاد وي هغه به څنګه وي؟ دميراث مستحق به وي اوکه نه؟

جواب: ويکون التعزير بالقتل کمن وجد رجلاً مع امرأة لا تحل له الخ. ([2])

ديوې منکوحې دطلاق څخه بغير دبل سړي سره دنکاح کوونکي سزا: **سوال**: (۲۳) يو سړي دخپلي خور دنکاح کولو څخه وروسته دخاوند دطلاق ورکولو څخه بغير هغه دبل سړي سره په نکاح کړي دده دپاره څه حکم دي؟

جواب: دنکاح شرعي څخه بغير چه کم اولاد وسو هغه ولد الزنا دي. ([3]) دمخکي سوال په مثل ددي حکم هم دي او دغه زنانه دي خپل خاوند ته ورسول سي يا دي دخاوند څخه طلاق واخلي دقاعدي موافق دبل سړي سره دي يې نکاح وکړل سي. ([4])

ددروغو دعوه کوونکي دتعزير مستحق دي: **سوال**: (۲۴) ديوې کونډي نکاح دزيد سره سوي وه يو بل سړي په عدالت کي دا ددروغو دعوٰي دائره کړه چه دزيد سره ددي نکاح نه ده سوي بلکه دعمر سره سوي دي او يو څو مسلمانانو دروغو ګواهي ورکړه قسمونه يې وخوړل ښځه عدالت ته حاضره سوه آيا ددروغو ددعوه کوونکو او ددروغو شهادت کوونکو دپاره په شريعت کي څه سزا ده؟

جواب: دي فاسق سو او پرده باندي هم شرعًا تعزير دي. ([5])

([1]) وکل مرتکب معصية لاحد فيها فيها التعزير (الدرالمختار على هامش ردالمحتار باب التعزير ج۳ ص۲۵۱. ط. س. ج۴ ص۲۷. ظفير

([1]) وفي الاشباه خدع انسان امراة انسان واخرجها وزوجها يحبس حتى يتوب اويموت لسعيه في الارض بالفساد (الدر المختار على هامش ردالمحتار باب التعزير ج۲ ص۲۲۴ ط. س. ج۴ ص۸۱). ظفير

([2]) ايضا ج۳ ص۲۴۷ – ۲۴۸. ط. س. ج۴ ص۲۲. ظفير

([3]) اما نکاح منکوحة الغير ومعتدته الخ فلم يقل احد بجوازه اصلا (ايضا باب المهر ج۲ ص۴۸۲. ط. س. ج۳ ص۵۱۲). ظفير

([4]) وکل مرتکب معصية لاحد فيها فيها التعزير (الدرالمختار على هامش ردالمحتار باب التعزير ج۳ ص۲۵۱. ط. س. ج۴ ص۲۷. ظفير

([5]) والشهادة على الشهادة وشهادة رجل وامرأتين کما في حقوق العباد (درمختار) قوله شهادة رجل وامرأتين =

دشرعي شهادت څخه بغير وطي نه ثابتيږي: **سوال**: (۲۵) يوسړي وايي چه ما فلاني سړي په خپلو سترګو ليدلى دي چه دميرږي سره يې جماع کوله ماسوا ديو سړي څخه بل ګواه هيڅوك نسته متهم سړى منکر دي شرعًا څه حکم دى؟

جواب: په دې صورت کي شرعي شهادت موجود نه دي چه په هغه باندي مذکوره زنا ثابته سي اودغه سړي منکر دي نو پرده باندي هيڅ تعزير نسته (۱) او ددغه حيوان سره به هم څه نه سي کيدي که چيري زنا ثابته سي نو حکم دا دي چه دغه حيوان دي ذبح کړي او ودي سوزول سي او زاني ته دي تعزير ورکړل سي. ليکن اوس چه کله زنا ثابته نه ده نو هيڅ سزا به نه جاري کيږي. فقط

دطلاق څخه شپږ مياشتي وروسته په دويمه نکاح کولو باندي هيڅ سزا نسته: **سوال**: (۲۶) زيد خپلي بي بي هندي ته دري طلاقه ورکړل هندي تقريبًا شپږ مياشتي وروسته دويمه نکاح وکړه دري کاله وروسته يو مفسد په عدالت کي مخبري وکړه چي هندي په ناجائز طور باندي دويمه نکاح کړيده آيا هنده او دهغې خاوند دتفريق لائق دي او آيا شرعًا دوى ته څه سزا ورکول پکار دي؟

جواب: په دې صورت کي دهندي دويمه نکاح صحيح ده او تفريق دزوجين نه سي کيدي يعني دخاوند دطلاق ورکولو څخه بغير هيچاته دتفريق اجازت نسته او شرعًا پردويم خاوند او هندي باندي هيڅ تعزير نسته. (۲)

دافعال شنيعه اقرار پرفسق باندي دليل دي: **سوال**: (۲۷) يو سړي په متعدد وختونو کي ديوڅو کسانو په مخکي اقرار وکی چه ما فلانی ښځه يو څو ځله بربنډه ليدلى ده او ديو سړي په مخکي دزنا اقرار هم وکی په دي صورت کي اګر چه زنا ثابته نه ده نو پرده باندي توبه لازمه ده اوکه نه؟

جواب: خو دده اقرار دافعال شنيعه دده دفسق دپاره کافي دى او داسي سړي واجب التعزير دى (۳) ده لره توبه ايستل په کار دي: قال الله تعالى ومن يفعل ذالك يلق اثاما يضاعف له العذاب يوم القيامة ويخلد فيه مهانا الا من تاب وامــــن وعمل عملاً صالحًا

= صرح به الزيلعي وکذا فى التتارخانيه وفى الجوهره لاتقبل فى التعزير شهادة النساء مع الرجال عنده لانه عقوبة وعندهما تقبل لانه حق آدمي (ردالمحتار باب التعزير ج۳ ص۲۵۸. ط. س. ج۴ ص۷۴). ظفير

(۱) ددې وجه چي کله دطلاق څخه وروسته عده تيره سوه نوښځي ته دواده کولو پوره حق حاصل دى، په ښځه او سړي کي هيڅوك هم په شرعي ډول سره مجرم نه دى. ظفير

(۲) وعزر کل مرتکب منکر اوموذى مسلم بغير حق بقول اوفعل (الدرالمختار على هامش ردالمحتار باب التعزير ج۳ ص ۲۵۱. ط- س. ج۴ ص۶۲). ظفير

(۳) سورة الفرقان رکوع : ۶. ظفير

فاولٰئك يبدل الله سيئاتهم حسنات وكان الله غفوراً رحيما. ([1]) فقط

بې قصوره دوهونکي او ښکنځل کوونکي سزا: سوال: (۶۸) ديو څو زنانو په خپلو کي جګړه وه چه يو سړي ديوي زنانه زوی چه دقرآن شريف تلاوت يې کوی څلور لښتی ووهی دده مور دخلاصولو دپاره راغله نو هغه يې پرغېته ګوته باندي يوه لښته ووهله او لڅه سوه او ډير ښکنځل وغيره يې وکړل داسي سړي ته څه سزا ورکول په کار دي؟

جواب: دغه سړي فاسق او عاصي سو او پرده باندي اخروي مواخذه قائمه ده تر هغه وخته پوري چه معافي ورڅخه وغواړي او که چيري اسلامي حکومت واي نو داسلام حاکم چه څه مناسب ګڼي ده ته به تعزير هم ورکوي. ([2])

دنيوي خواهشاتو ته پردين باندي ترجيح ورکول ګناه ده: سوال: (۶۹) آيا شرعًا زيد ته پردنيوي خواهشاتو ددين په مقابله کي دمخکی کولو په جرم کي څه سز ورکول کيدي سي اوکه نه؟

جواب: دنيوي خواهشاتو ته پر دين باندي ترجيح ورکول معصيت او دنفس دخواهشاتو تابعداری ده او په دي باندي مواخذه ضروري ده په دنيا کي پردي باندي څه تعزير مقرر نه دي. فقط

په خپلو کي وهل ټکول کول او دهغه سزا: سوال: (۷۰) دقاضي صاحب زوی زما په کورکي دننه اوبه واچولي او څاڅکي يې پرما راپريوتل دا حرکت ښه نه وو، فدوي خپل بچي وګڼی او دنصيحت په طور يې دوې چپلاخي ووهی چه آئنده داسي حرکت ونه کړي او دڅه بدی يا دښمنۍ دوجي يې ونه وهی او دا حال ما قاضي صاحب ته عرض کړی معافي مي ورڅخه وغوښته دوی دانصاف په نظر زما څخه هيڅ شکايت ونه کړی ليکن بعضي خلګو ددښمنۍ په نظر سره دجمعې په ورځ زما په نيستوالي کي په دې طريقه اعلان وکی چه ګلاب خان مستري دقاضي صاحب دزوی پرسينه باندي ختلي دي او

([1]) وعزر كل مرتكب منكر اوموذى مسلم بغير حق بقول اوفعل الخ ويشتم مسلم (الدرالمختار على هامش ردالمحتار التعزير ج۳ ص۲۵۱ – ۲۵۲. ط. س. ج۴ ص۶۲) والتعزير ليس فيه تقدير هو مفوض الى رأى القاضى وعليه مشائخنا لان المقصود منه الزجر واحوال الناس فيه مختلفة (ايضا ج۳ ص۳۴۷. ط. س. ج۴ ص۶۲). ظفير

([2]) وكل مرتكب معصية لاحد فيها فيها التعزير (درمختار) قال فى الفتح ويعزر من شهد شرب الشاربين والمجتمعون على شبه الشرب وان لم يشربوا الخ وكذا المسلم يبيع الخمر ويأكل الربوا (ردالمحتار باب التعزير ج۳ ص۲۵۱. ط. س. ج۴ ص۶۲) والتعزير ليس فيه تقدير بل مفوض الى رأى القاضى وعليه مشائخنا زيلعى لان المقصود منه الزجر واحوال الناس فيه مختلفة الخ (الدرالمختار على هامش ردالمحتار باب التعزير ج۳ ص۲۴۷). ظفير

وهلي يې دي او مولوي عاشق علي صاحب يې په څپليو وهلي دي (حالانکه دا دواړه خبري غلطی دي) په دي جرم کي که چيري يو مسلمان دګلاب خان سره سلام او کلام بلکه په هيڅ طريقه تعلق ونه ساتي او دمسلمانانو په قبرستان کي دي دفن نه کړي په دي صورت کي شرعًا څه حکم دي؟

جواب: چه کم صورت په سوال کي درج دی ددي موافق اول خو دګلاب خان څخه هيڅ کار داسي نه دي سوي چه موجب دتعزير وي ځکه چه که چيري ګلاب خان دقاضي صاحب زوی ته دهغه په قصور باندي صرف چپلاخه ورکړي وي نو دا څه داسي قصور نه دي چه دهغه په وجه دي دی دتعزير مستحق سي اوکه چيري بالفرض دده څخه قصور وسو نو ده معافي غوښتي ده اوس دي دبرادری څخه خارجول او دده سره مذکوره معامله کول او مذکوره اعلان کول درست نه دي ټولو مسلمانانو ته په کار ده چه دګلاب خان سره په شريکه اوسيږي او دي دي دبرادری او دمسلمانانو دجماعت څخه خارج نه ګڼي دا لوی ظلم دي چه دده په باره کي کړل سوي دی غايت ما في الباب دا دي چه که چيري په يو زعم کي دګلاب خان څخه قصور سوي وي نو دهغه څخه دي ورباندي توبه وباسي او هغه دي معافي وغواړي دهغه څخه وروسته دي دهغه څخه هيڅ جدائي ونه کړل سي. فقط

<u>که بار بار دهدايت ورته کولو باوجود دلمانځه پابند نه وي</u>: **سوال**: (۷۲) چه کم سړي بار بار دهدايت او اصلاح سره سره دلمانځه پابند نه وي دهغه سره څه معامله کول په کار دي؟

جواب: دمسلمانانو کار نصيحت کول دي که چيري هغه يې نه مني نو عاصي او فاسق دي تعزير اګر چه واجب دي ليکن په دي زمانه کي دحاکم اسلامي دنيستوالي په وجه دتعزير داجراء هيڅ صورت نسته او که چيري په څه تنبيه سره هغه منع سي نو صحيح ده کنه نو دده سره دي تعلق ختم کړي.

کتاب السير : دجهاد سره متعلق احکام او مسائل

اول باب: دار الحرب اودار الاسلام اودهغو سره متعلق احکام او مسائل

<u>خلفاء راشدينو رضي الله عنهم په غزواتو کي شرکت کړي دي</u>: **سوال**: (۱) خلفاء راشدينو دنبي ﷺ په زمانه کي غزوه کړيده اوکه نه او فتح وسوه که څه؟

جواب: دخلفاء راشدينو په زمانه کي ډير فتوحات سوي دي چه په تاريخ او سير کي په تفصيل سره مذکور دي چه دچا شوق وي نو دتاريخ په کتابونو کي دي وګوري. (خپله دنبي ﷺ په زمانه کي هم په غزواتو کي شريکيدل، ظفير). فقط

په دار الحرب کي جمعه او اخترونه او پنځه وخته لمونځونه لوستل درست دي: **سوال**: (۱\۲) هندوستان داسلامي سلطنت کیدو څخه پس دارالحرب سو اوکه نه؟
۲: په دار الحرب کي پنځه وخته مونځونه لوستل درست دي اوکه نه؟
۳: په دار الحرب کي دجمعی او اخترونو لمونځونه کول درست دي اوکه نه؟
جواب: درست دي. ۲: درست دي. ۳: درست دي. (۱)

دهندوستان کافر څه شي دي؟ **سوال**: (۳) دهندوستان کافران ذمیان دي که حربیان؟

هندوستان څه شي دي؟ **سوال**: (۱\۴) هندوستان دارالحرب دي که دارالاسلام؟ (۲) که چیري یو کافر حربي مسلمان نوکر وساتی نو پرده به دذمي حکم کول کیږي اوکه نه؟
جواب: هندوستان دارالحرب دي او دهندوستان کافر مستامن او ذمیان دي او په دارالاسلام کي کافر حربي مستامن اوسیږي او کافر حربي ته که چیري مسلمان امن ورکړی او وي ساتی نوهغه مستامن دی. (۲) (دهندوستان ددار الحرب کیدو فتوي دټولو څخه مخکي شاه عبد العزیز محدث دهلوي ورکړي ده بیا مولانا رشید احمد ګنګوهي په سنه ۱۸۵۷ میلادي کي دحاجي امداد الله مهاجر مکي په امارت کي مولانا محمد قاسم نانوتوي، ګنګوهي، حافظ ضامن شهید، مولانا محمد منیر نانوتوي او نورو علماؤ دانګریزانو داقتدار مقابله وکړه او دشاملي په میدان کي یې خپله بهادري وښودله او ددي څخه وروسته برابر هندوستان دارالحرب وبلل سو شیخ الهند مولانا محمود حسن عثماني تحریك (ریشمي رومال) دآزادی دپاره جاري کړی مولانا عبید الله سندهي او مولانا منصور انصاري جلا وطن سوه خپله شیخ الهند او مولانا حسین احمد مدني او حکیم نصرت حسین وغیره دهندوستان حکومت په مالټا کي ډیر کلونه په قید کي وساتل، په اګست کال ۱۹۴۷ میلادي کي ملك آزاد سو لیکن دآزادی څخه وروسته دلته پر مسلمانانو باندي چه کم ظلمونه وسول او څنګه قتل او خونریزي وسوه دهغه هیڅ مثال په تاریخ کي نه لیدل کیږي ددي وجي شیخ الاسلام مولانا مدني دآزادی څخه وروسته هم دي ملك ته ددغسی حالانو په وجه دارالحرب وویل او بعضو ددار الحرب یو قسم دارالامان وبلی، بهر حال اوس ملك آزاد دي لیکن دمسلمانانو او داسلام په حصه کي دآزادی هیڅ ثمره نسته دمسلمانانو جان، مال، عزت او آبرو تر اوسه پوري محفوظ

---

(۱) واما بلاد علیها ولاة کفار فیجوز للمسلمین اقامة الجمع والاعیاد الخ (ردالمحتار کتاب القضاء ج۳ ص۴۲۷. ط. س. ج۵ ص۳۶۹). ظفیر
(۲) قالا بشرط واحد لا غیر وهو اظهار حکم الکفر وهو القیاس الخ حاصله انه لما صار دار حرب صار في حکم ما استولوا علیه في دارهم (ردالمحتار فصل في استئمان الکافر ج۳ ص۳۴۹، ط.س. ج۴ ص۱۷۵). ظفیر

نه دي او دحکومت په نظر کي ددي هيځ قدر او وقعت نسته بعضو مخصوصو مسلمانانو دآزادی څخه ضرور فائده حاصله کړه ليکن انفرادي ده او داسي په مخکي حکومت کي هم وسول ملت اسلامي غمګين دي آئنده به الله تعالي شايد يوصورت پيدا کړي، لعل الله يحدث بعد ذالك امراً، ظفير). فقط

په جهاد کي دشرکت دپاره دمور اوپلار اجازت: **سوال**: (۵) بغير داجازت دمور او پلار څخه دجهاد دپاره تلل جائز دي اوکه نه؟

جواب: که چيري جهاد فرض عين سي نو بي اجازته تلل درست دي کنه نو نه دي او تفصيل ددي دفقهي په کتابونوکي دي. ([1])

ددار الحرب په تعريف کي دامام ابو حنيفه رحمه الله او صاحبينو رحمهم الله اختلاف دي: **سوال**: (۶) داحنافو په نزد تعريف ددار الحرب څه دي هندوستان دارالحرب دی اوکه نه؟ ددارالحرب څخه هجرت لازم دي اوکه نه؟

جواب: ددارالحرب په تعريف کي دامام ابوحنيفه او صاحبينو رحمهم الله اختلاف دي کما هو مسطور في کتب الفقه او ددار الحرب په تعريف کي داختلاف پربناء باندي دکما هو مذکور في کتب الفقه دهندوستان په دارالحرب کيدو کي اختلاف دي ([2]) او هجرت ددار الحرب څخه مطلقا لازم نه دي. ([3])

پراوقاف باندي په قبضه کولو سره حکومت نه مالک کيږي: **سوال**: (۷) کافر حکومت غلبه وکړي او دمسلمانانو پر مملوکه جايدادونو او اوقافو باندي قبضه وکړي نو هغه مالك جوړيدي سي؟

۲: چه کله مسلمان ددغه کافر حکومت دلاسونو څخه پرخلاصولو باندي قادر نه سو نو په دي حالت کي که چيري حکومت ديو سړي جايداد بل کس ته وقف يا دچا په لاس خرچ

([1]) لايفرض علی صبی وبالغ له ابوان اواحدهما لان طاعتهما فرض عين وقال عليه الصلوة والسلام للعباس بن مردس لما اراد الجهاد الزم امك فان الجنة تحت رجل امك وفي لايحل سفر فيه خطر الاباذنهما (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار کتاب الجهاد ج۳ ص۳۰۴. ط. س. ج۴ ص۱۲۴). ظفير

([2]) لاتصير دار الاسلام دار حرب الا بامور ثلاثة باجراء احکام اهل الشرك وباتصالها بدار الحرب بان لايبقی فيها مسلم او ذمی امنا بالامان الاول علی نفسه (درمختار) ای بان يغلب اهل الحرب علی دار من دارنا اوارتد اهل مصر وغلبوا واجروا احکام الکفر اونقض اهل الذمة العهد وتغلبوا علی دارهم ففی کل من هذه الصور لا تصير دار حرب الا بهذه الشروط لثلاثة وقالا بشرط واحد لا غير وهو اظهار حکم الکفر وهو القياس هنديه (ردالمحتار فصل فی استئمان الکافر ج۲ ص۳۴۹. ط. س. ج۴ ص۱۷۴. ظفير

([3]) اما فی بلاد عليها ولاة کفار فيجوز للمسلمين اقامة الجمع والاعياد ويصير القاضی قاضيا بتراضی المسلمين ويجب عليهم طلب وال مسلم اه (ردالمحتار فصل فی استيمان الکافر ج۳ ص۳۵۰). ظفير

کړي نو دغه خریدار ته باوجود ددی علم چه دا دفلاني سړي مغصوبه جایداد دي یا وقف دي اخیستل او دهغه څخه فائده اخیستل جائز دي اوکه نه؟

جواب: په اوقافو کي به دا حکم نه جاري کیږي ځکه چه: الوقف لایملك ولا یملك مطلق دی (۱) او ددغسي قید: وان تغلبوا علي اموالنا الخ څخه اوقاف خارج سو.

۲: په جایداد مملوکه کي به دا قاعده جاري کیږي چه دکافرانو دتسلط څخه وروسته دمشتري په حق کي تصرف جائز دي (۲) لیکن په اوقاف کي به دا قاعده نه جاري کیږي داوقاف په مصارفو کي تصرف کول به لازم وي. (۳) فقط

<u>دهندوستان حکم په مختلف دورکي</u>: **سوال**: (۸) چه کله په پنجاب کي سلطنت دسکانو وو نو چه کم ملك ددوی زیر حکومت وو هغه دارالحرب وو که دارالاسلام او چه کله دبرطانیی حکومت سي نو څه حکم پاته سو؟

جواب: چونکه هندوستان دمسلمانانو بادشاهانو په دور حکومت کي دار الاسلام وو ددي څخه وروسته سکان یا نصاري مسلط سول وروسته ددي څخه په دارالحرب ویلو کي اختلاف دي لهذا په مسئله دربا وغیره کي احتیاط پکار دی (۴) (لیکن مفتیانو دمختلفو ځایونو هندوستان دارالحرب مقرر کړي دي او علماء دیوبند دانګریزانو په دور حکومت کي ددار الحرب کیدو متفقه فیصله کړي وه بلکه دآزادۍ څخه وروسته هم بعضو دار الحرب وبلی، والله اعلم، ظفیر). فقط

---

(۱) فاذا تم (الوقف) ولزم لایملك ولا یملك ولا یعار ولا یبرهن (درمختار) قوله لا یملك ای لا یکون مملوکا لصاحبه ولا یملك ای لایقبل التملیك لغیره بالبیع ونحوه (ردالمحتار کتاب الوقف ج۳ ص۵۰۷. ط. س. ج۴ ص۳۵۱ - ۳۵۲). ظفیر

(۲) وان غلبوا علی اموالنا ولو عبدا مومنا واحرزوها بدرهم ملکوها (درمختار) لقوله تعالی للفقراء المهاجرین سماهم فقراء فدل علی ان الکفار ملکوا اموالهم التی هاجروا عنها الخ (ردالمحتار کتاب الوقف ج۳ ص۳۳۷. ط. س. ج۴ ص۱۲۰). ظفیر

(۳) فان شرائط الوقف معتبرة اذا لم تخالف الشرع وهو مالك فله ان یجعل له حیث شاء ما لم یکن معصیة وله ان یخص صنفا (ردالمحتار کتاب الوقف ج۳ ص۴۹۹، ط.س. ج۴ ص۳۴۳). ظفیر

(۴) لاتصیر دارالاسلام دارالحرب الاباموور ثلاثة باجراء احکام اهل الشرك وباتصالها بدار الحرب وبان لایبقی فیها مسلم او ذمی امنا بالامان الاول علی نفسه ودارالحرب تصیر دار الاسلام باجراء احکام اهل الاسلام فیها کجمعة وعید وان بقی فیها کافر اصلی وان لم تتصل بدار الاسلام (الدرالمختار) قال بشرط واحد لا غیر وهو اظهار حکم الکفر وهو القیاس ویتفرع علی کونها صارت دار حرب ان الحدود والقود لایجری فیها وان الاسیر والمسلم یجوز له التعرض لما دون الفرج وتنعکس الاحکام اذا صارت دارالحرب دارالاسلام قال بعض المتاخرین اذا تحققت الامور الثلاثة فی مصر المسلمین ثم حصل لاهله الامان ونصب فیه قاض مسلم ینفذ احکام المسلمن عادی الی دار الاسلام (ردالمحتار باب ایضا ج۳ ص۳۴۹. ط. س. ج۳ ص۱۷۴). ظفیر

(۹) **سوال**: **که چیري کفار دمسلمانانو پر مالونو باندي غالب سي نودوی دهغه مالک جوړیږي**: گورنمنټ چه دکله څخه خپل تسلط پر هندوستان وغیره باندي کړي دي او دمسلمانانو ملکیت يې مات کړی خپل ملکیت يې قائم کړي دي مثلاً مځکي، درختي، وغیره نو اوس دا شیان گورنمنټ یو مسلمان ته ورکړي مثلاً زمکه دکروندي دپاره او درختي دخرڅولو دپاره او غرونه دشهدو دتجارت وغیره دپاره او رقم دبخشش په طور مسلمان ته ورکړي نو ددې څخه فائده اخیستل جائز دي اوکه نه؟

جواب: دفقهی کتابونو کي راغلي دي که چیري کفار دمسلمانانو پرمالونو باندي غالب راسي او هغه په خپل حفاظت کي واخلي نو دوی دهغه مالکان جوړیږي نوپه صورت مسئوله کي چه کله انگریزان دلته پر هندوستان مسلط سول نو دوی مالکان سول اوس دوی ته اختیار دي چه چاته غواړي نو هبه دي کړي لهذا دمسلمانانو دپاره ددي اخیستل او ددي څخه فائده پورته کول جائز دي: فی الخانیه ولو استولی اهل الحرب علی اموالنا وحرزوها بدارهم ملکوها عندنا [1] الخ خانیه ج۳. کذا لو وهبه او یاخذه بقیمة الخ عالمگیری. فقط

(۱۰) **سوال**: **په هندوستان کي هندو مسلمان ذمي دي که حربي؟** نن صبا چه کم حالت دهندوانو دمسلمانانو سره په اکثرو ښارونو دهندوستان کي دي هغه ښکاره دی او معلوم دي دپوښتلو قابل دا امر دي چه دهندوستان اهل هنود اوس هم دذمیانو په حکم کي دي یاکه دحربیانو پرموږ مسلمانانو باندي ددوی دذمي والي حقوق عائد کیږي که دحربیانو والا؟

جواب: په حقیقت کي په هندوستان کي هندوانو پرمسلمانانو باندي [2] ځای پرځای حملی شروع کړي دي او بالکل اعلانا دمسلمانانو دښمنان سوي دي نو دمسلمانانو سره ددوی هیڅ معاهده وغیره پاته نه سوه او د: وهم بدءواکم اول مرة [3] مصداق سول. فقط

---

[1] فتاوی خانیه باب الاستیلاء ج۳ وان غلبوا علی اموالنا واحرزوها بدارهم ملکوها (درمختار) وهو قول مالك واحمد ایضا فیحل الاکل والوطؤ لمن اشتراه منهم کما فی الفتح لقوله تعالی للفقراء المهاجرین سماهم فقیر فدل علیه ان الکفار ملکوا اموالهم التی هاجروا عنها (ردالمحتار باب استیلاء الکفار ج۳ ص۳۳۲ - ۳۳۷ ط. س. ج۴ ص۱۲۰). ظفیر

[2] هو من یدخل دار غیره بامان مسلما کان او حربیا دخل مسلم دار الحرب بامان حرم تعرضه شيء من دم ومال وفرج منهم (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب المستامن ج۳ ص۴۴۱. ط. س. ج۴ ص۱۲۲). گواکي مفتی علام په انگریزی دور حکومت کي هندو او مسلمانان دواړه دمستأمن په درجه کي گڼل او انگریزان حکمرانان وه هیڅ شك نه وو چي په هغه وخت کي دانگریزانو حکومت وو هغوی دزور په مټ پردې ملك باندي قبضه کړي وه. ظفیر

[3] سورة التوبة : رکوع : ۲. ظفیر

پہ دار الحرب کي ددیني امورو دپاره امیر مقرر کول: **سوال**: (۱۱) پہ دارالحرب کي ددیني معاملاتو دپاره امام وغیره مقرر کول څنګه دي؟

جواب: دارالحرب یعني دهغه ملك متعلق چه پرهغه باندي کفار مسلط وي دا خو فقهاؤ لیکلي دي چه دجمعی وغیره دانتظام دپاره یو امام دي مقرر کړي اوپه خپلو کي دمعاملاتو دفیصلو دپاره دي قاضي مقرر کړي (۱) باقي دکافرانو محاربینو دحملو دمدافعت دپاره او دمسلمانانو دځان او مال دحفاظت دپاره دي مسلمانان دوخت دحاکمانو طرفته رجوع وکړي ځکه چه ددوی سره داسي قوت نسته چه مدافعت وکړي او دامور سیاسیه انتظام وکړي. فقط

دویم باب: عشر او خراج

عشر او خراج اود هغو سره متعلق احکام او مسائل

دخراجي مځکی تعریف او شرائط: **سوال**: (۱) خراجي مځکه څه ته وایي او دهغی څه څه شرطونه دي؟

جواب: فی الدرالمختار ما اسلم اهله طوعًا او فتح عنوة وقسم بین جیشنا والبصرة عشریة (۲) نو داسي مځکه عشري ده چه ترڅو پوري په مینځ کي دیو غیر مسلم ملك رانه سي.

چه هرڅومره غله وي په هغه کي عشر واجب دي: **سوال**: (۲) زمیندار ته چه دخپلي مځکی څخه مقرر اجاره دغله یا نقد روپۍ دکاشتکار څخه وصولیږي او دهغه څخه سرکاري مال ګذاري ورکول کیږي نو پرڅومره مقدار غله باندي عشر واجب دی؟ او دزمکی دسر دمحصول څخه که واجب دی که مخکي؟ اوکه چیري غله دومره وي چه دټول کال تیریدل په مشکل وي نو آیا بیا به هم عشر ورکول کیږي او دا حکم دزمیندارانو او کښتکارانو دواړو سره متعلق دي اوکه دیوه سره؟

جواب: دمال ګزاری ادا کولو څخه مخکی په ټوله غله وصول شده کي عشر واجب دي دا حکم ددواړو سره متعلق دي چه څومره غــله دچا سره وي دهغه پر ذمه ددغه مقدار عشر

---

(۱) ولو فقدوا لا لغلبة کفار وجب المسلین تعیین وال وامام للجمعة (درمختار) واما بلاد علیها ولاة کفار فیجوز للمسلمین اقامة الجمعة والاعیاد ویصیر القاضی قاضیا بتراضی المسلمین فیجب علیهم ان یلتمسوا والیا مسلما منهم اه وفی الفتح واذا لم یکن سلطان ولا من یجوز التقلد منه کما هو فی بعض بلاد المسلمین غلب علیهم الکفار کقرطبه الان یجب علی المسلمین ان یتفقوا علی واحد منه یجعلونه والیا فیولی قاضیا فیکون هو الذي یقضی بینهم الخ (ردالمحتار کتاب القضاء ج۴ ص۴۲۷. ط. س. ج۴ ص۳۶۹). ظفیر

(۲) الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب العشر والخراج ج۳ ص۲۵۰ - ۲۵۱. ط. س. ج۴ ص۱۷۶. ظفیر

ادا کول واجب دي. (۱)

په ټولو جنسونو او ترکاريانو کي دعشر حکم: سوال: (۳) په نقدو روپو او ترکاريانو وغيره کي عشر واجب دي اوکه نه؟

جواب: دنقد حکم جدا دي په دي کی زکوة دي په هغه شرطونو يعني چه دنصاب په مقدار وي او کال پرتير سي (۲) باقي په ټولو اجناسو او ترکاريانو کي عشر واجب دي چه هر څومره وي دهغه عشر دي ادا کړي. فقط

په غله وصولولو باندي دي عشر ادا کړي: سوال: (۴) که چيري دکښتکار څخه غله وغيره دمځکي وصول سوه نو په دي صورت کي به هم عشر واجب وي اوکه نه؟

جواب: دغلی وصولولو په صورت کي به عشر ادا کول کيږي. (۳)

دعشر مصارف څه دي؟ سوال: (۵) دعشر اخيستو مستحق به څوك وي؟

جواب: چه کم مصرف دزکوة دي هغه دعشر هم دي. (۴)

هغه مځکه چه دمسلمانانو مملوکه وي که چيري راجاګانو ته ټيکس ورکړل سي نوعشر واجب دي اوکه نه؟ سوال: (۶) چه کمي مځکی مملوکي دمسلمانانو دي او راجه ګانو ته يې ټيکس ورکول سي په هغو کي عشر واجب دي اوکه نه؟

جواب: عشر واجب دي. (۵)

عشري مځکه که چيري په اجاره باندي ورکړل سي نو عشر به څوك ورکوي؟ سوال: (۷) عشري مځکه که چيري په اجاره باندي ورکړل سي نو په دغه صورت کي به عشر مالك د مځکي ادا کوي که کروندګر؟

---

(۱) وفی المزارعة ان کان البذر من رب الارض فعليه ولو من العامل فعليهما بالحصة (درمختار) والحاصل ان العشر عند الامام على رب الارض مطلقا عندهما كذالك لو البذر منه ولو من العامل فعليهما وبه ظهر ان ماذكره الشارح هو قولهما اقتصر عليه لما علمت من ان الفتوى على قولهما لصحة المزارعة الخ فی البدائع ان المزارعة جائزة عندهما والعشر يجب فی الخارج والخارج بينهما ويجب العشر عليهما (ردالمحتار باب العشر ج۲ ص۷۵ – ۷۲. ط. س. ج۲ ص۳۳۵). ظفير

(۲) شرط افتراضها عقل وبلوغ واسلام وحريه وسببه ملك نصاب حولی نام فارغ عن دين له مطالب من جهة العباد الخ (الدرالمختار على هامش ردالمحتار كتاب الزكوة. ط. س. ج۲ ص۲۵۸). ظفير

(۳) واما ان الملك غير شرط فيه بل الشرط ملك الخارج الخ ولان العشر يجب فی الخارج لا فی الارض فكان ملك الارض وعدمه سواء كما فی البدائع (ردالمحتار باب العشر والخراج ج۳ ص۳۵۲ – ۳۵۳. ط. س. ج۴ ص۱۷۷). ظفير

(۴) ای مصرف الزكوة والعشر الخ هو فقير الخ ومسكين الخ وعامل الخ ومديون لا يملك نصابا فاضلا عن دينه الخ (باب المصرف ج۲ ص۷۹. ط. س. ج۲ ص۳۳۹). ظفير

(۵) يجب العشر فی ارض غير خراج فی سقی سماء وسيح الخ ويجب نصفه فی سقی غرب ودالية الخ اوسقاه بماء اشتراه (الدرالمختار على هامش ردالمحتار باب العشر ج۲ ص۲۲. ط. س. ج۲ ص۳۲۵). ظفير

جواب: په دي کی اختلاف دي چه عشر دمځکي په دي صورت کي پرمالك دمځکي باندي دي که پرمستاجر یعنی کروندګر باندي امام صاحب داول قائل دي او صاحبین ددوهم په حاوي کي دي: وبقولهما ناخذ شامي، یعني په حاوي کي یې دصاحبینو قول ته غوره ویلي دي بناء علیه کروندګر دي دټول پیداوار عشر ادا کړي(۱). فقط

بادشاه که چیري عشر وانه خلي نو عشر نه ساقطیږي: **سوال**: (۸) زموږ مځکه عشري ده اوکه نه که چیري وي نو انګریز چه ځلور آني في کانال زموږ څخه اخلي دیته به خراج ویل کیږي که نه؟ دي ته که چیري خراج ویل کیږي نو په کم قانون سره او دویم دا چه دعشر دپاره شرط دمځکي عشري کیدل چه یو اسلامي بادشاه که چیري عشر ایښی وي نو هغه به عشري وي که چیري یې خراج ایښي وي نو خراجي سوه نو دهند او پنجاب پرمځکه باندي دیو تاریخ څخه نه معلومیږي چه فلاني بادشاه دلته عشر ایښودلی دي خصوصًا دجهانګیر او اکبر بادشاه یا مخکي چه کم تیر سوي دي، دریم دا چه دارالحرب دي که دارالاسلام که چیري دارالحرب وي نو آیا په دارالحرب کي عشر واجب دي اوکه نه؟ اوکه چیري دار الاسلام وي نو په کمو شرطونو دارالاسلام دی غرض دا چه ددي ځاي بعضي علماء ددي قائل دي چه دلته هرګز عشر نسته او بعض دعشر قائل دي ستاسو څه رایه ده؟

جواب: په درمختارکي دي: وما اسلم اهله طوعًا او فتح عنوةً وقسم بین حبشینا الخ عشریة لانه الیق بالمسلم (۲) وفی ردالمحتار ولو قال بیننا یشتمل ما اذا قسم بین المسلمین غیر الغانمین فانه عشری لان الخراج لا یوظف علی المسلم ابتداءًا قهستانی، شامی، وفیه ای الدرالمختار ولو ترك العشر ای السلطان لا یجوز اجماعا ویخرجه بنفسه للفقراء (۳) شامي، په درمختار کي دي: وذکره فی الزکوة لانه منها قال فی الفتح قیل ان تسمیة زکوة علی قولهما لاشتراطهما النصاب والبقاء بخلاف قوله ولیس بشیء اذ لا شك انه زکوة حتی یصرف مصارفها واختلافهم فی اثبات بعض شروط لبعض انواع الزکوة ونفیها لا یخرجه عن کونه زکوة الخ (۴) ددي عباراتو څخه یو څو امور معلوم سوه یو دا چه دمسلمانانو دمځکو اصل وظیفه عشر دي دویم دا چه که چیري بادشاه عشر

(۱) والعشر علی الموجر کخراج موظف وقالا علی المستاجر کمستعیر مسلم وفی الحاوی وبقولهما ناخذ (درمختار) فلا ینبغی العدول عن الافتاء بقولهما ذلك (ردالمحتار باب العشر ج۲ ص۷۵. ط. س. ج ۲ ص۳۳۴).

(۲) الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب العشر والخراج ج۳ ص ۳۵. ط. س. ج ۴. ص ۱۷۲. ظفیر

(۳) ردالمحتار باب العشر والخراج ج ۳ ص ۳۵۱. ط. س. ج ۴ ص۱۷۲. ظفیر

(۴) الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب العشر والخراج ج۳ ص ۳۲۲. ط. س. ج ۲ ص۳۲۵. ظفیر

وانخلي نو عشر نه ساقطيږي بلکه خپله دمځکي عشر ایستل پکار دي او فقیرانو ته یې ورکول پکار دي، دریم دا چه عشر هم زکوة دي نوچه کله په اصل کي هغه عشري وي چه مسلمانانو بادشاهانو فتح کړي او مسلمانانو ته یې ورکړي وي یا ددي مځکی حال هیڅ معلوم نه وي په دي دواړو صورتونو کي که چیري په حقیقت کي په یوه مځکه کي عشر مقرر کول پکار وي او اسلامي بادشاه یا بل څوك عشر مقرر نه کړي نو عشر نه ساقطیږي او دغه مځکه دعشري کیدو څخه نه خارجیږي اوچه کله عشر دزکوة پر منزله دي نو کله چه زکوة پرمالونو باندي هر ځای واجب دي که اسلامي ملکونه دي که غیر، دغسی به عشر هم هر ځاي لازم وي او واضحه ده که چیري دعشري مځکی څخه خراج واخیستل سي نو بیا هم عند الله عشر نه ساقطیږي لهذا صاحب دمځکی ته په کار دي چه عشر فقیرانو ته ورکړي الحاصل احوط دا هم دي چه مسلمانان دي دخپلو مځکو دپیداوار څخه عشر ادا کړي. فقط

په عشري مځکوکي به لسمه حصه ادا کوي: **سوال**: (۹) دمځکو په پیداوار کي په څه حساب سره زکوة ورکول په کار دي لسمه حصه یا کم اوکه زیات؟ خرچه دټول کال به باسي او ورکوي به یې اوکه دټول پیداوار څخه؟ دپرېکولو وغیره اجرت به ورڅخه ایستل کیږي اوکه څنګه؟ دزکوة په وخت دزراعت څاروي به هم شمارل کیږي اوکه نه؟ که چیري پنځوس تولي سپین زر او اووه تولي سره زر وي نو آیا ددي پرمجموعي رقم باندي به زکات ورکول کیږي یا چه ترڅو پوري دهرو دواړو نصاب پوره سوي نه وي؟ او زکات په کم حساب سره ورکول په کار دي؟ سیدانو ته زکات ورکول جائز دي اوکه نه او دزکات مستحق څوك دي هر یوه ته څومره ورکول پکار دي؟

جواب: په عشري مځکو کي په دي زمانه کي هم عشر یعني لسمه حصه ادا کول ضروري دي او دمسلمانانو سره چه کمي مځکی دي هغه عشري ګڼل په کاردي ځکه چي دمسلمانانو دمځکو اصلي وظیفه عشر دي او عشر دټول پیداوار څخه ورکول په کار دي خرچه به دهیڅ سي نه ایستل کیږي نه اجرت دچا ایستل کیږي (۱) دزراعت دکار پرڅارویو باندي زکات نسته دغه شان چه کم ځناور په کورکي ولاړ وي او خوراك کوي نو پرهغه باندي هم زکات نسته، سپین زر او سره زر دواړه وي اوکه نیم دسپینو زرو نو زکات لازم دي په دي زمانه کي نفع دفقیرانو په دي کي ده چه دسرو زرو هم دسپینو زرو قیمت ورکړل سي اوپه سپینو زروکي شامل کړل سي اوزکات یې ورکول سي. او دسپینو

(۱) ردالمحتار باب العشر ج۲ ص ۲۵ – ۲۲. ط. س ج۲ ص ۳۲۵. ظفیر

زرو نصاب **۵۲** نیمي تولي او اووه **۷** نیمی تولي دسرو زرو دي، چه کم وخت نصاب پوره کړل سي نو څلویښتمه حصه دزکات ورکول په کار دي یعنی په هرو لسوکي اتمه حصه ورکول لازم دي [۱] سیدانو ته زکات ورکول درست نه دي که چیري ضرورت زیات وي نو ددوی دپاره په شریعت کي حیله دا ده چي یو داسي سړي چه غریب وي صاحب نصاب نه وي او سید نه وي هغه ته دي زکات ورکړل سي او مالك دي جوړکړل سي. بیا دي هغه دخپل طرف څخه سیدانو ته ورکړي دا صورت دجواز دي زکات محتاجو ته ورکول په کار دي یو سړي ته دنصاب څخه کم ورکول په کار دي مثلاً د **۵۲** نیمي تولي سپینو زرو څخه دي کم ورکړل سي. اوکه چیري یو سړی مقروض وي او خاندان یې وي او ضرورت یې زیات وي هغه ته زیات هم ورکول جائز دي. فقط

په عشري مځکه کي لسمه حصه دالله تعالي دپاره ایستل په کار دي: **سوال**: (۱۰) چه کمي مځکی دانګریزي سرکار تر حکم دلاندي دي او رعایا خراج داراضي سرکار انګریز بهادر ته ادا کوي نو ددغه مځکو په پیداوار کي چه کمه غله پیدا کیږي ددغه غلی څخه حکم دي چه کمه حصه په زکات کي ادا کړل سي؟ او دارنګه دزراعت خرڅ او سرکاري ټیکس وغیره خرچه مخکي دادا کولو دزکات څخه به منها کیږي اوکه نه ؟

جواب: که چیري دغه مځکه عشري وي نو لسمه حصه دهغو څخه دالله تعالي دپاره ایستل په کار دي او دټول پیداوار څخه به ایستل کیږي او دزراعت او سرکاري ټیکس وغیره خرچه به نه منفي کیږي. [۲] فقط

دغلي په پیداوار کي دعشر مقدار: **سوال**: (۱۱) دغلی دپیداوار څخه کمه حصه زکات ادا.کول په کار دي نبي ﷺ دالله تعالي دپاره کمه حصه یا څومره اندازه باندي في من ادا کول ښوولي دي؟

جواب: په مخکی جواب کي دا لیکل سوي وه که چیري مځکه عشري وي نو لسمه حصه دالله تعالي دپاره ورکول په کاردي یعني که چیري لس منه غله وي نو یو من غله صدقه

---

(۱) یجب العشر الخ فی مسقی السماء ای مطر وسیح الخ بلا شرط نصاب وبقاء یجب مع الدین الخ ویجب نصفه فی مسقی غرب ودالیة الخ بلا رفع منون الزرع وبلا اخراج البذر لتصریحهم بالعشر فی کل الخارج (درمختار) بلا ردع اجرة العمال ونفقة البقر وکری الانهار واجرة الحافظ ونحو ذالك (ردالمحتار باب العشر ج۲ ص۷۹. ط. س. ج۲ ص۳۲۵). ظفیر

(۲) نصاب الذهب عشرون مثقالا والفضه مائتا درهم کل عشرة دراهم وزن سبعة مثاقیل الخ المعتبر وزنهما اداءًا ووجوبا لا قیمتهما واللازم فی مضروب کل منهما ومعموله ولو تبرا او حلیا مطلقا وعرض تجارة قیمته نصاب من ذهب اوورق مقوما باحدهما ربع عشر فی کل خمس بحسابه فقی کل اربعین درهما درهم وفی کل اربعة مثاقیل قیراطان (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب زکوة المال ج۳ ص۳۸. ط. س. ج۲ ص۲۹۵). ظفیر

کول په کار دي اوکه شل منه غله پيدا سوي وي نو دوه منه غله ایستل په کار دي او محتاجوته يې ورکول په کاردي. (۱)

<u>په باراني او مال گزاري والا مځکه کي عشر او دهغه مقدار</u>: **سوال**: (۱۲) چه دکمي مځکی مال گزاری په سرکار کي ادا کيدي سي او باراني وي دهغی دغلی څخه به عشر ادا کيږي اوکه څه او خرڅ دزراعت او ټيکس سرکاري چه کم ادا کړل سي ورڅخه مجرا به وي اوکه نه؟

جواب: که چيري دغه مځکي عشري وي نو لسمه حصه به دهغه څخه دالله تعالي دپاره ادا کوي او دمځکی دټول پيداوار څخه به ایستل کيږي خرڅ دزراعت او سرکاري به نه سي مجرا کيدي ورڅخه. (۲)

<u>په عشر ایستلو کي دزراعت او ټيکس اخراجات به وضع کيدي سي اوکه نه</u>؟ **سوال**: (۱۳) چه کمه مځکه دانگریزانو تر کنټرول لاندي دي او رعايا دمځکو خراج سرکار انگريز بهادر ته ادا کوي نو چه ددغه مځکو په پيداوار کي کمه غله پيدا کيږي ددغه غلې څه حکم دي؟ اوکمه حصه دزکات به ادا کيدي سي او دخرچ دزراعت او ټيکس سرکاري وغيره منها به دادا کولو څخه مخکی کيږي اوکه نه؟ او مذکوره غله چه دهغی په باره کي سوال دي هغه په باران سره اوبه سوي ده په ډول یا بوکي سوه یا نهرسره نه ده اوبه سوي؟

جواب: که چيري دغه مځکه عشري وي نو لسمه حصه دهغه دالله تعالي دپاره وایستل په کار دي او دټول پيداوار څخه به ایستل کيږي دزراعت خرچ او ټيکس دسرکار وغيره به نه مجرا کوي. (۳)

<u>دغلي دپيداوار عشر</u>: **سوال**: (۱۴) دغلی دپيداوار څخه کمه حصه زکات ادا کول په کار دي نبي ﷺ دالله تعالي دپاره څومره حصه فرمايلي ده؟ آيا دالله تعالي دپاره کمه حصه يا څومره قدر په يو من کي ادا کول په کار دي؟ بينوا تؤجروا !

جواب: مخکي جواب داليکل سوي وه چه مځکه که چيري عشري وي نولسمه حصه ددي

---

(۱) يجب العشر الخ فی مسقی سماء وسيح ويجب نصفه فی مسقی غرب ودالية الخ بلا رفع مئون الزرع وبلا اخراج البذر لتصريحهم بالعشر فی کل الخارج (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب العشر ج۲ ص۷۲ – ۷۹. ط. س. ج۲ ص ۳۵۲). ظفير

(۲) وگورئ: شامی باب العشر ط. س. ج۲ ص۳۲۵. ظفير

(۳) افاد ان ملك الارض ليس بشرط بوجوب العشر وانما الشرط ملك الخارج لانه يجب فی الخارج لافی الارض (ردالمحتار باب العشر ج۲ ص۲۷) بلا رفع مئون الزرع وبلا اخراج البذر (درمختار) ای يجب العشر فی الاول ونصفه فی الثانی بلا رفع اجرة العامل ونفقة البقر وکری الانهار واجرة الحافظ ونحو ذلك (ردالمحتار باب العشر ج۲ ص۷۹. ط. س. ج۲ ص۳۲۵). ظفير

دپیداوار دالله تعالي دپاره ورکول په کار دي یعني که چیري لس منه غله وي نو یومن صدقه کول په کار دي اوکه شل منه غله پیدا سوي وي نو دوه منه غله ایستل پکار دي او محتاجو ته یې ورکول په کار دي. [1] فقط

دعشري مځکې تعریف او عشر دچا پرذمه دی؟ **سوال:** (۱۵) دعشري مځکې څه تعریف دي او آیا دخپل طرف څخه ټولي عشري دي او دټولو عشر ورکول واجب دي حالانکه سرکار هم مال گزاري اخلي اوچه کمه مځکه دسوداګر څخه مسلمان اخیستي ده دهغې پرآمدني باندي هم به عشر ورکول کیږي او عشر دمالك پرذمه دي که دکروندګر او که چیري مالك یې خپله وکري نو څه حکم دي؟

جواب: دعشري مځکې مطلب دا دي چه په کمه مځکه کي عشر واجب وي هغه عشري ده چه کم وخت پوره حال معلوم نه وي لکه څنګه چه دا وخت دي نو عموما دا حکم کیدي سي چه دمسلمانانو مملوکه مځکه عشري ګڼل کیږي او دکافرانو مملوکه مځکې خراجي نو دمسلمان سره چه کمه مځکه مثلاً دمعافي یعني چه دټول ژوند دپاره ورته عطیه کړل سوي وي را روانه وي یا ده دیو مسلمان څخه اخیستي وي هغه عشري ده اوچه کمه مځکه یې دکافر څخه اخیستي ده هغه به خراجي پاته سي او بعضو علماؤ داسي هم لیکلي دي چه کله سرکار دټولو مځکو محصول اخلي نوټولي خراجي دي لیکن داحتیاط مقتضا دا ده چه مسلمان په خپل مملوکه مځکو کي عشر وباسي اوکه چیري مځکه په اجاره باندي ورکړل سوي وي نو دامام صاحب په نزد عشر پرمالك باندي دي داجارې درقم څخه به لسمه حصه صدقه کوي که چیري مالك خپله کښت وکړي نو دتمام پیداوار څخه به لسمه حصه وباسي محصول سرکاري وغیره هیڅ به نه وضع کیږي. [2]

دبټیداري (په نیمه شریکه) مځکې عشر څه دي او دچا پرذمه دي؟ **سوال:** (۱۲) پر مسلمانانو مزارعینو باندي که زمیندار وي یا کروندګر دزراعت په پیداوار کي یو شان زکات فرض دي اوکه څه فرق یې سته او څومره زکات ورکول په کار دي؟

جواب: دمځکي دپیداوار زکات لسمه حصه ده دیته عشر ویل کیږي لیکن شرط دا دي چه مځکه عشري وي خراجي نه وي دمزارعت په صورت کي یعني دنیمي په صورت کي

---

[1] یجب العشر الخ بلا رفع مئون الزرع وبلا اخراج البذر لتصریحم بالعشر فی کل الخارج (درالمختار) ای یجب العشر فی الاول ونصفه فی الثانی بلا رفع اجرة العمال ونفقة البقر وکری الانهار واجر ة الحافظ ونحو ذلك (ردالمحتار باب العشر ج۲ ص۷۹، ط س. ج۲ ص۳۲۵). ظفیر

[2] ارض العرب الخ وما اسلم اهله طوعا اوفتح عنوة وقسم بین جیشنا الخ عشریة لانه الیق بالمسلم (درمختار) ای الارض التی اسلم اهلها قوله الیق بالمسلم ای کافیة من معنی العبادة وکذا هو لهاحیث یتعلق بنفس الخارج (ردالمحتار باب العشر والخراج ج۳ ص۳۵۰ – ۳۵۱، ط. س. ج۴ ص۱۷۲). ظفیر

عشر پردوارړو باندي دي يعني چه څومره قدر غله دمځکو دمالك په حصه کي راسي دهغی عشر به هغه ورکوي او چه څومره قدر دکروندګر په حصه کي راسي دهغی عشر به هغه ورکوي. (۱)

دعشر ايستو په وخت به سرکاري خراج نه منها کيږي: **سوال**: (۱۷) په ممالك متحده آګره او اوده کي څه مځکی داسي نسته چه پرته دمال ګزاری دسرکار څخه مستثني وي نوپه حالت مذکوره زميندار يا کروندګر ته دمځکو دپيداوار څخه غله په اندازه درقم دمال ګزاری دسرکار يا ټيکس زميندار خارج کړي پرباقي باندي زکات ورکول پکار دي اوکه پرټول پيداوار باندي بلا منها کولو درقم دمال ګزاری وغيره؟

جواب: چي مځکه عشري وي نو دټول پيداوار لسمه حصه ورکول په کار دي خرچ سرکاري وغيره به نه منها کيږي. (۲)

دخراجي مځکي دعشر مسئله: **سوال**: (۱۸) مولانا عبد الحي صاحب په مجموعه فتاوي جلد دوئم ص۳۱۸ کي ليکلي دي: هر څوك چه خپله مملوکه مځکه دباران په اوبو اوبه وکړي عشر په هغه باندي واجب الاداء دي ليکن کله چه دمذکوره مځکی خراج دوخت حاکم ته ورکړل سي په هغه صورت کي عشر ساقطيږي درد المحتار او نورو په حکم: لا يجتمع العشر مع الخراج، انتهى ددې مسئلی تفصيل څنګه دي او د: قوله لا يجنمع مع الخراج څه معني ده؟

جواب: معنى قوله لا يجمتع العشر مع الخراج انه لا يوخذ من الارض الخراجية العشر ولا من العشرية الخراج ولكن ان اخذ من العشرية الخراج فهل يسقط العشر فهو محل تامل، نو ظاهر دا دي چه مولانا عبد الحى مرحوم دخراجي مځکی حکم ليکلي دي چه که چيري دخراجي مځکی خراج سرکار واخيستی دعشر اداء کول لازم نه دي ليکن که چيري دعشري مځکی خراج واخيستل سو نو دا ظاهريږي چه ديانتا دمالك پر ذمه باندي دعشر ورکول لازم دي. (۳) فقط

---

(۱) والعشر على الموجر كخراج موظف وقالا على المستاجر كمستعير مسلم وفى الحاوى وبقولهما ناخذ وفى المزارعة ان كان البذر من رب الارض فعليه ولو من العامل فعليهما بالحصة (درمختار) قال فى النهر ولو دفع الارض العشرية مزارعة ان البذر من قبل العاملى فعلى رب الارض وقالا فى الزرع لصحتها وقد اشتهر ان الفتوى على الصحة الخ والحاصل العشر عند الامام على رب الارض مطلقا وعندهما كذلك لو البذر منه ولو من العامل فعليهما (ردالمحتار ج۲ ص ۷۵ – ۷۲ ط. س. ج۲ ص۳۳۴). ظفير

(۲) يجب العشر فى الاول (اى ما سقى بماء المطر والسيح) ونصفه فى الثانى (اى فى مسقى غرب ودالية) بلادفع اجارة العمال ونفقة البقر وكرى الانهار واجرة الحافظ ونحو ذلك (ردالمحتار باب العشر ج۲ ص۲۹. ط. س. ج۲ ص۳۲۵). ظفير

=

په سرکاري محصول سره عشر نه ساقطیږي: **سوال**: (۱۹) سرکار چه دمځکي څخه کم محصول اخلي په هغه سره عشر ساقطیږي اوکه نه؟

جواب: دعشري مځکي څخه محصول اخیستل دعشر مسقط نه دي: هذا هو الاحتیاط، اوکه چیري مځکه عشري نه وي بلکه خراجي وي نو محصول ورکول کافي دي یعني عشر په دي کي واجب نه دي. ([1]) فقط

دسرکاري ځنګل دحکومت ورکړل سوي مځکي او دکافر څخه داخیستل سوي مځکي حکم:

سوال: (۲۰) زما سره دري قسمه مځکی دي دهغو څخه پرکمه مځکه باندي خراج دي او پرکمه مځکه باندي عشر یا څه؟ اول قسم ځنګل سرکاري پروت وو په سرکار کي مي درخواست ورکړي هغه ماته راکول سوه او زما په ملك کي ده دوئم قسم دیو کافر څخه اخیستل سوي ده چه زما ملك دي، دریم قسم سرکاري مځکه ده مثلاً دیو کال یا زیات دپاره دزراعت دپاره ورکول کیږي؟

جواب: په اول قسم مځکه کي عشر لازم دي: لان العشر الیق بالمسلم وما اسلم اهله طوعا او فتح عنوة وقسم بین جیشنا والبصرة ایضا باجماع الصحابة عشریة لانه الیق بالمسلم ای لما فیه من معنی العبادة ردالمحتار ([2]) وفیه لو ان المسلم او الذمی فی سقاها مرة بماء العشر ومرة بماء الخراج فالمسلم احق بالعشر والذمی بالخراج الخ ([3]) په دویم قسم کي خراج دي: او اشتری مسلم مقن ذمی ارض الخراج یجب الخراج الخ درمختار ([4])، په دریم قسم کي عشر په خارج کي لازم دي: لانهم صرحوا بان الملك غیر شرط فیه بل سبب وجوبه الارض النامیة ، وشرط ملك الخراج ای لا ملك الارض کما فی

([3]) اخذ البغاة والسلاطین الجائرة زکاة الاموال الظاهرة کالسوائم والعشر والخراج لا اعادة علی اربابها ان صرف الماخوذ فی محله والا یصرف فیه فعلیهم فیما بینهم وبین الله اعادة الخراج لانهم مصارفه (درمختار) اما السلطان الجائز فله ولایة اخذها وبه یفتی الخ نعم ذکر في المعراج عن کثیر من المشایخ بلخ انه کالبغاة لانه لا یصرفه الی مصارفه وفی الهدایة انه الاحوط (ردالمحتار باب زکوة الغنم ج۲ ص۲۲ ط. س. ج۲ ص۲۸۸). ظفیر

([1]) اخذ البغاة والسلاطین الجائزة زکاة الا اموال الظاهرة کالسوائم والعشر والخراج لا اعادة علی اربابها ان صرف الماخوذ فی محله والا یصرف فیه فعلیهم فیما بینهم وبین الله اعادة غیر الخراج (درمختار) قوله فعلیهم ای دیانة قال فی الهدایه وافتوا بان یعیدوها دون الخراج لکن هذا فیما اخذه البغاة لتعلیلهم بان البغاة لا یاخذون بطریق الصدقة بل بطریق الاستحلال فلاب فونها الی مصارفها اهـ اما السلطان الجائر الخ ذکر فی المعراج عن کثیر من مشائخ بلخ انه کالبغاة لا یصرفه الی مصارفه وفی الهدایة انه الاحوط (ردالمحتار باب زکوة الغنم ج۲ ص۳۲. ط. س. ج۲ ص۲۸۸). ظفیر

([2]) ردالمحتار باب العشر والخراج ج۳ ص۳۵۰ – ۳۵۱ ط. س. ج۴ ص۱۷۲. ظفیر

([3]) وګوری: ردالمحتار باب العشر والخراج ج۳ ص۳۵۱ ط. س. ج۴ ص۱۷۲. ظفیر

([4]) الدرالمختارعلی هامش ردالمحتار باب العشر والخراج ج ۳ ص ۳۲۴. ط س. ج۴ ص۱۹۱. ظفیر

الاراضي الموقوفة كذا في ردالمحتار. ([1]) فقط

دعشري او خراجي مځکي تعريف: **سوال**: (۲۱) کمه مځکه عشري ده اوکمه خراجي که چيري دعشري مځکی خراج سرکاري واخيستل سي نو عشر ساقطيږي اوکه نه؟

جواب: دمسلمانانو مملوکه مځکو لره چه حال دهغو معلوم نه دي عشري احتياطا بايد وويل سي او دهغو عشر بايد ورکول سي اوکه دعشري مځکي څخه خراج ورکړل سي عشر نه ساقطيږي. فقط (عشري مځکه هغه ده چي هميشه دمسلمانانو په قبضه کي پاته سوي وي که په خوشحالی سره په ابتداء کي مسلمان سوي وي اوکه دقوت په ذريعه فتح حاصله سوي وي اوپه مسلمان فوج کي تقسيم کړل سوي وي، اوکله هم دغير مسلم په ملکيت کي نه وي راغلي او خراجي هغه مځکه ده چه دکافرانو په قبضه او ملکيت کي پاته سوي وي يا پريښودل سوي وي که مسلمانانو ددوی څخه اخيستي وي، ([2]) ظفير). فقط

چه کم مسلمان عشر نه باسي: **سوال**: (۲۲) عشر نه ورکونکي ديندار مسلمان دي که نه؟ بينوا وتوجروا !

جواب: عشر نه ورکوونکي باوجود دوجوب دعشر داسي ګناهګار دي لکه څنګه چه زکات نه ورکونکي ګناهګار او فاسق وي خوکافر نه دي. ([3]) فقط

دمځکو قسمونه اوددي دعشر حکم: **سوال**: (۲۳) څه فرمائي علماء دين دهغه مځکو په باره کي چه تر اوسه پوري آبادي سوي وي يا آباديږي لکه په ملك پنجاب کي نهر دلاکل پور او سرګودها آباد سوي دي او دمنټګمري نهر اوس آباديږي چه آيا په دغه مځکو باندي عشر سته اوکه نه باقي په حيثيت دمحنت مشقت او دسرکاري محصول په لحاظ سره خو دا دنورو مځکو څخه زياتي چي محنت غواړي ددي وجي چه په ځاه سره داوبه سوي مځکي محصول خو ۴ کناله دي دپنجاب او ددي مځکو محصول عنصدر کناله دي وعلي هذا القياس اضافه محنت چه کله انسان دمريعه دکارڅخه تحصيل دتفريغ بالکليه

([1]) وګورى: ردالمحتار باب العشر ج۲ ص۲۷. ط- س. ج۲ ص۳۲۵. الفاظ يې دا دی: افاد ان ملك الارض ليس بشرط لوجوب العشر وانا الشرط ملك الخارج لانه يجب فى الخارج لا فى الارض فكان ملكه له وعدمه سواء الخ لان سببه الارض النامية بالخارج تحقيقا (ردالمحتار باب العشر ج۲ ص۲۷. ط. س. ج۲ ص۳۲۵). ظفير

([2]) ارض العرب وهى من حد الشام والكوفة الى اقصى اليمن وما اسلم اهله طوعا اوفتح عنوة وقسم بين جيشنا والبصرة ايضا لاجماع الصحابة عشرية لانه اليق بالمسلم الخ وما فتح عنوة ولم يقسم بين جيشنا الامكة اقر اهله عليه او نقل اليه كفار اخر او فتح صلحا خراجية لانه اليق بالكافر (الدرالمختار على هامش ردالمحتار باب العشر والخراج ج۳ ص۳۵۰ – ۳۵۲. ط. س. ج۴ ص۱۷۲). ظفير

([3]) يجب العشر الخ (درمختار ط. س ج۲ ص۳۲۵). ظفير

نه سي کولي، بينوا توجروا !

جواب: په شامي کي منقول دي احترازا عما وجد في دارالحرب فان ارضها ليست ارض خراج او عشر الخ ([1]) ددي روايت موافق عشر لازم نه دي، ليکن که چيري داسي مځکی په داراسلام کي وي نو عشر به هم وي په دي کی به عشر ورکول لازم وي لهذا که چيري احتياط وکړي نو عشر دي ورکړي. ([2]) فقط

په هندوستان کی عشري او خراجي مځکي او دهغو حکم: سوال: (۲۴) په پنجاب کي دمړو مځکو احياء انګريزانو په پنجابيانو سره کړيده نهرونه په انګريزي خرچ سره تيار سوي دي آبادي خپله کښتکار کوي دبعضو کروندګرانو څخه سرکار قيمت واخيستی مځکي يې ددوی ملکيت کړي، دبيعی، هبې وغيره يې دوی ته اختيار ورکړي دي محصول معين اخلي دا دواړه قسم مځکی عشري دي، يا يې موروثي ګڼلي دي دوی ته يې دبيعی وغيره اختيار نسته ددوی څخه محصول زيات اخلي دا دواړه قسم مځکی عشري دي که خراجي؟ او داجاری په صورت کي عشر پرمالك باندي دی که پرمستاجر باندي؟ او دمزارعت په صورت کي پرچا باندي دی؟ بينوا وتوجروا !

جواب: ددار الحرب مځکي علامه شامي دعشري او خراجي کيدو څخه خارجي کړي دي لکه څنګه چه هغه ليکي: ويحتمل ان يکون احترازا عما وجد فی دارالحرب فان ارضها ليست ارض خراج او عشر الخ شامی باب الرکاز ([3]) غالبًا پردي بناء باندي قاضي ثناء الله پاني پتي صاحب په ما لابد منه کي دهندوستان مځکی عشري کړي نه دي باقي په دي کي نور هيڅ شبه نسته چه عشر ورکول احوط دي او عشري مځکه که چيري په اجاره ورکړل سي يا په مزارعت باندي نو داجاري په صورت کي امام صاحب پر مؤجر باندي او صاحبين پر مستأجر باندي عشر واجب کوي: والعشر علی الموجر الخ قالا علی المستأجر وفی الحاوی وبقولهما ناخذ الخ ([4]) او دمزارعت په صورت کي عشر پردواړو باندي دحصی په قد ر دي. فقط

په سرکاري ټيکس ورکولو سره عشر ادا کيږي اوکه نه؟ سوال: (۲۵) ددي ځاي خلق عشر نه ورکوي بلکه دا وايي چه موږ بادشاه ته عشر ورکوو کافرانو يابادشاه ته عشر په ورکولو

([1]) ردالمحتار باب الرکاز ج۲ ص۲۱. ط. س. ج۲ ص۳۲۰. ظفير

([2]) فيدخل فيه المفاوز وارض الموات فانها اذا جعلت صالحة للزراعة کانت عشرية او خراجية (ايضا) اول مفتی علامه پرعشری مځکه باندی به عشر واجب او ضروری ګڼي او دکله څخه چه دشامی داجزيه پيدا سويده نو دهغه وجي څخه يې اراده بدله سوی ده . ظفير

([3]) ردالمحتار باب الرکاز ج۲ ص۲۱. ط. س. ج۲ ص۳۲۰. ظفير

([4]) الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب العشر ج۲ ص۷۴ – ۷۵. ط. س ج۲ ص۳۳۴. ظفير

سره ادا کیږي اوکه نه ددي وضاحت وکړئ؟

جواب: دعشر مصارف دزکات په شان دي مسلمانانو محتاجو ته يې ورکول په کار دي کافرانو ته په ورکولو سره عشر نه ادا کیږي. (۱) فقط

دکفارو څخه په اخستل سوو مځکوکي عشر نسته: **سوال**: (۲۶) زما پلار ۱۷۰ بیگه مځکه دکفارو څخه اخیستي وه په هغې کي لږ څه باغ دي او څه مځکه يې په ټيکه باندي ورکړيده څه زه خپله کرم اوس دا امر دریافت طلب دي چه په دي مځکه کي عشر راځي اوکه نه؟

جواب: دکفارو څخه چه کمه مځکه واخیستل سي هغه عشري نه ده. (۲) فقط

دعشر دپاره صاحب نصاب کیدل ضروري دي اوکه نه؟ **سوال**: (۲۷) دکروندي عشر پر صاحب نصاب باندي واجب دي که پرټولو باندي؟

جواب: که چیري مځکه عشري وي نو صاحب نصاب او غیر صاحب نصاب دواړه به عشر وباسي. اومحتاجوته دي ورکوي (۳) اوچه کم فقیر غوښتونکي وي که چیري هغه صاحب نصاب وي نو هغه ته عشر او زکات ورکول درست نه دي. والله تعالي اعلم

په پیداوار کي به اخراجات وضع کیږي او عشر به ایستل کیږي که بغیر دوضع څخه: **سوال**: (۲۸) په عشري مځکه کي چه مزدورانو ته مزدوري ادا کړل سوي وي نو دهغه حساب به په عشرکي وضع کیږي اوکه نه؟

جواب: په عشر کي دمزدورانو مزدوري او دنورو اخراجاتو حساب نه کیږي یعني دمزدورانو دمزدورۍ وغیره په وجي سره په عشر کي کمي نه کیږي نو لهذا لسمه حصه ددي څخه ورکول په کاردي په درمختارکي دي: بلارفع مئون وبلااخراج البذر لتصریحهم

(۱) اخذ البغاة والسلاطین الجائزة زکوة الاموال الظاهرة کالسوائم والعشر والخراج لا اعادة علی ربها ان صرف المأخوذ فی محله الخ وان لم یصرف فیه فعلیهم فیما بینهم وبین الله اعادة غیر الخراج (درمختار) ام السلطان الجائز الخ ذکر فی المعراج عن کثیر من مشائخ بلخ انه کالبغاة لانه لایصرف الی مصارفة وفی الهدایة انه الاحوط (ردالمحتار باب زکاة الغنم ج۲ ۳۲. ط. س. ج۲ ص۲۸۸). ظفیر

(۲) او اشتری مسلم من ذمی ارض خراج یجب الخراج ولو منعه انسان من الزراعة (درمختار) وقد صح ان الصحابة اشتروا اراضی الخراج وکانوا یودون خراجها (ردالمحتار باب العشر والخراج ج۳ ص۳۲۴. ط. س. ج۴ ص۱۹۱). ظفیر

(۳) یجب العشر بلا شرط نصاب وبلا شرط بقاء حولان حول (درمختار) ثبت ذلك بالکتاب والسنة والاجماع والمعقول ای یفترض لقوله تعالی واتوا حقه یوم حصاده فان عامة المفسرین علی انه العشر اونصفه وهو مجمل بینه قوله ﷺ ما سقت السماء ففیه العشر وما سقی بغرب اودالیة ففیه نصف العشر (ردالمحتار باب العشر ج۲ ص۲۶ – ۲۷. ط.س. ج۲ ص۳۲۶). ظفیر

بالعشر فی کل الخارج الخ والله تعالی اعلم. (۱)

زمیندارانو ته چه کم مال گزاري ادا کوي دهغي مځکي عشر: **سوال**: (۲۹) عشري مځکه څه ته ویل کیږي او خراجي مځکه څه ته ویل کیږي؟ چه کم خلق زمیندارانو ته مال گزاري ادا کوي پردغه خلقو باندي په کم حساب سره په غله کي صدقه واجب ده؟

جواب: دشامي دتصریح څخه معلومیږي چه دهندوستان مځکی عشري او خراجي نه دي که چیري احتیاطاً عشر ورکړي نو بهتره ده او چه کوم خلق زمیندارانو ته مال گذاري ادا کوي په دي کي اختلاف دي چه عشر پرچا باندي واجب دي امام صاحب پرزمیندار باندي عشر واجبوي او صاحبین پرمستاجر باندي او په درمختارکي دي: وبقولهما ناخذ او شامي هم دتفصیل او تحقیق څخه وروسته دصاحبینو قول ته ترجیح ورکړي ده او مفتي به اوماخوذبه کړی یې ده حیث قال: فلا ینبغی العدول عن الافتاء بقولهما ذالک. (۲)

په تمباکو کي هم عشر سته که چیري مځکه عشري وي: **سوال**: (۳۰) که چیري یو سړي په خپله مځکه کي تمباکو وکرل نو ددي په پیداوار کي به عشر لازم وي اوکه نه؟

جواب: که چیري مځکه عشري وي نو عشر به ددي څخه لازمیږي. (۳)

چه دچا سره دکفایت په قدر مځکه وي په هغه باندي هم عشر دی: **سوال**: (۳۱) بکر خپله لږڅه مملوکة مځکه خپله کري او هم دا دده او دده دبال او بچ دپاره درزق ذریعه ده پرده باندي دغلي په پیداوار کي عشر واجب دي اوکه نه؟

جواب: عشر او نیم عشر په دې باندي واجب دي. (۴)

دکمي غلي عشر چه ونه لیستل سي: **سوال**: (۳۲) زید دغلی لسمه حصه زکات ونه ایستی نو دغه غله حلاله سوه که حرامه؟

جواب: دغه غله حلاله ده زید په زکات نه ورکولو باندي فاسق او گناه گار دي.

په خراجي مځکه کي عشر نسته: **سوال**: (۳۳) دکتاب الفاروق چه دمولانا شبلي نعماني تصنیف دي ملاحظی څخه معلومیږي او ظاهریږي چه پرکمه مځکه باندي خراج وي پر هغی باندي عشر واجب نه دی، بینوا وتوجروا!

---

(۱) الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب العشر ج۲ ص۶۹ - ۷۰. ط. س. ج۲ ص۳۲۸. ظفیر

(۲) ردالمحتار باب العشر ج۲ ص۷۴ – ۷۵. ط. س. ج۲ ص۴۳۳. ظفیر

(۳) علی انه عند ابی حنیفة یجب العشر فی الخضروات (ردالمحتار باب العشر ج۲ ص۶۲. ط. س. ج۲ ص۳۲۷). ظفیر

(۴) بلا شرط نصاب وبقاء (درمختار) فیجب فیما دون النصاب بشرط ان یبلغ صاعا وقیل نصفه وفی الخضروات التی لا تبقی وهو قول الامام وهو الصحیح (ردالمحتار باب العشر ج۲ ص۶۷، ط. س. ج۲ ص۳۲۶). ظفیر

جواب: حنفي فقهاؤ داسي ليکلي دي چه دکمي مځکی څخه محصول واخيستل سي په هغې کي عشر نسته. (۱) فقط

دعشر سره متعلق په قرآن پاک کي حکم: **سوال**: (۳۴) څه فرمايي علماء دين متين په دي مسئله کي چه لکه څه رنګه چي دصلاة او زکات متعلق په قران شريف کي اقيموا الصلوة واتوا الزکوة په صراحت سره مذکور دي دغه رنګه دعشر متعلق څه آيت کريمه سته اوکه نه؟ په هندوستان کي عشر واجب دي اوکه نه؟ بينوا وتوجروا !

جواب: دعشر وجوب مفسرينو ددي آيت څخه: واتوا حقه يوم حصاده (۲) ثابت کړي دي نو لهذا په عشري مځکه کي به عشر لازم وي. فقط والله اعلم

دهندوستان په مځکو کي عشر: **سوال**: (۳۵) په هندوستان کي عشر واجب دي اوکه نه؟

جواب: روايات داسي قسم هم سته چه عشر واجب نه سي او دادله ؤ عموم ددي مقتضي دي چه عشر واجب سي نو احوط دا دي چه عشر ورکول په کار دي. (۳)

دسالانه ټيکس والا مځکي په پيداوار کي عشر: **سوال**: (۳۶) زيد ديوه زميندار څخه په شل روپې سالانه ټيکس باندي دکښت کولو دپاره مځکی اخيستي ده او پنځه ديرش روپې دده په اوبه خور وغيره کي خرچ سوي دي پيداوار دسلو روپو دي، زکات به څومره قدر ورکوي؟

جواب: په دي صورت کي که چيري مځکه عشري وي نو لسمه حصه دپيداوار به دي فقيرانو ته ورکوي چه څومره قدر پيدوار وسو مثلاً دسلو روپيو نو دهغی لسمه حصه به ورکوي. (۴)

پر زميندار او کروندګر دواړو باندي دحصې په قدر عشر دي: **سوال**: (۳۷) الف خپله مځکه چه باراني ده عمر ته په دي شرط باندي دکښت دپاره ورکړه چه په کښت باندي تخم چه

---

(۱) يجب العشر في ارض غير الخراج (درمختار) اشار الى ان المنع من وجوبه كون الارض خراجية لانه لا يجتمع العشر والخراج (ردالمحتار باب العشر ج۲ ص۶۲. ط. س. ج۲ ص۳۲۵ . ظفير

(۲) سورة الانعام ركوع : ۱۷. ظفير

(۳) ويحتمل ان يكون احترازا عما وجد فى دارالحرب فان ارضها ليست ارض خراج اوعشر (ردالمحتار باب الركاز ج۲ ص۶۱. ط. س. ج۲ ص۳۲۰) يجب العشر فى ارض غير خراج (درمختار) اى يفترض لقوله تعالى واتوا حقه يوم حصاده الخ وهو محمل بينه قوله ﷺ ماسقت السماء ففيه العشر وما سقى بغرب اوداليه ففيه نصف العشر الخ (ردالمحتار باب العشر ج۲ ص۶۲. ط. س ج۲ ص۳۲۵). ظفير

(۴) يجب العشر ويجب نصفه فى مسقى غرب او دالية اى دولاب لكثرة المئونة الخ او سقاه بماء اشتراه (الدر المختار على هامش ردالمحتار باب العشر ج۲ ص۶۸ - ۶۹. ط. س. ج۲ ص۳۲۵) ددي څخه معلومه سوه چه که شراکت قيمةً سوى وى نو نيم عشر يعنى شلمه حصه به ورکول وى. ظفير

ځومره خرڅ سو هغه به ادا کوم او پیداوار به نیمه نیمه حصه تقسیموو سرکاري ټیکس هم الف ادا کوي ټول پیداوار دبالامځکی ځخه دوه ویشت منه غله حاصله سوه چه نیمه حصه یولس منه الف ته ورسیده اجرت کلیةً تقریبًا یو من ددینه علاوه مشترکه ورکړل سو ګواکي ټول پیداوار ددي مځکی ۲۳ منه سو آیا پرالف باندي عشر واجب دي او ځومره قدر دټول پیداوار عشر الف دمځکی مالك به ادا کوي که صرف دخپلي خپلي حصې دا به ورکوي که دټیکس والا مځکي په وجه به عشر ساقط سي؟

جواب: په عشري مځکه کي که چیري هغه مځکه په زراعت سره ورکړل سي لکه ځنګه چه په صورت مسئوله کي دي عشر پرزمیندار اوکښت کار باندي په اندازه دخپلي خپلي حصی واجبیږي او یو من چه په اجرت کي مشترکه خرڅ سوي دي دهغه عشر پر دواړو باندي واجب دي (۱) او دا هم فقهاؤ لیکلي دي چه کمه مځکه خراجي وي په هغه کي عشر نه واجبیږي (۲). فقط

<u>**دهندوستان مځکه عشري ده که خراجي**</u>؟ **سوال**: (۳۸) دهندوستان مځکه عشري ده که خراجي په دي کی قول فیصل څه دي؟

جواب: دشامي دعبارت ځخه معلومیږي چه دهندوستان مځکه نه عشري ده اونه خراجي: وعبارته فان ارضا لیست ارض خراج او عشر الخ ص۴۵ شامی جلد ثانی باب العاشر (۳). فقط

<u>**په بټائي (نیمائي) والا مځکه کي عشر**</u>: **سوال**: (۳۹) په هندوستان کي چه کم خلق زمیندار دي او خپله کرونده نه کوي رعایا کرونده کوي زمیندار ته چه کمي روپی درعایا ځخه ورکول کیږي دهغه ځخه مال ګذاري سرکاري ادا کوي باقي زمیندار په خپل مصرف کي راولي پرداسي زمیندارانو باندي دمال ګذاری دادا کولو ځخه پرته آیا بل هم څه حق شرعي خراج وغیره ادا کول لازم دي که نه؟

جواب: چه په کمو مځکو کي خراج یعني سرکاري محصول ورکول کیږي دهغه ځخه عشر یعني لسمه حصه ورکول ضروري نه دي او که یې چیري ورکړي نو بهتره ده او تفصیل ددي دا دي چه نورو ته په کښت ورکولو دوه صورتونه دي یو دا چه په نقد روپیو باندي داجارې په طریقه مځکه ورکړل سي دویم دا چه په بټائي (تقسیم ۱ نیم په نیمه) غله

---

(۱) وفی المزارعة ان کان البذر من رب الارض فعلیه ولو من العامل فعلیهما بالحصة (الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب العشر ج۲ ص۷۵. ط. س. ج۲ ص۳۳۵). ظفیر

(۲) لئلا یجتمع والخراج (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ج۲ ص۲۲. ط. س. ج۲ ص۳۲۵). ظفیر

(۳) ردالمحتار باب الرکاز ج۲ ص۲۱. ط. س. ج۲ ص۳۲۰. ظفیر

باندي ورکړل سي په دويم صورت کي که چيري تخم دمزارع وي نو هر يو مالك او مزارع دي دخپلي خپلي حصې په غله کي لسمه حصه ورکړي او په اول صورت کي اجر پر مستأجر باندي دي او دا قول دصاحبينو دي او په دي باندي درمختار فتوي ورکړي ده: والعشر على المؤجر كخراج موظف وقالا على المستاجر كمستعير مسلم وفى الحاوى وبقولهما ناخذ وفى المزارعة ان كان البذر من رب الارض فعليه ولو من العامل فعليهما بالحصة (۱) وفى الشامى قوله ارض غير الخراج اشار الى ان المانع من وجوبه كون الارض خراجية لانه لا يجتمع العشر والخراج الخ (۲) ج۲ ص۴۹ باب العشر.

په باغ کي عشر سته اوکه نه؟ **سوال**: (۴۰) دکمو خلقو سره چي دآم وغيره باغونه دي هغوی به هم څه حق شرعي ادا کوي؟ ددي صراحت وکړئ!

جواب: په دي کي هم هغه حکم دي که چيري په دغه مځکه کي سرکاري محصول ورکول کيږي نو دباغ پر ميوو باندي عشر نسته. فقط

دمځکي زکات به څه قسم ادا کيږي؟ **سوال**: (۴۱) دپيداوار زکات څومره دي که چيري ديو سړي سره نقد نور مال نه وي مکان او مځکه په سلګونو او زرګونو روپيو وي دهغه زکات څنګه دی؟ بينوا وتوجروا!

جواب: که چيري مځکه عشري وي نو دهغی دغلي څخه لسمه حصه ايستل دالله تعالي دپاره لازم دي (۳) او داوسيدو مکان وغيره اګر چه دسلګونو او دزرګونو روپو وي په هغی کي هيڅ زکات نسته. (۴) فقط

دهندوستان مځکه نه عشري ده او نه خراجي: **سوال**: (۴۲) مزروعه مځکه دهندوستان چه اوس دانګريزانو ترحکومت لائدي ده که عشري ده که خراجي؟ پرهرو دواړو تقديرونو چه کله ټيکه ادا کړل سي نو عشر به فرض وي که خراج که هيڅ نسته؟ دوجوب په صورت کي چه کمو مځکو ته سرکار دنهر اوبهوررسوي او اوبه چينبونکی په دې صورت کي دقيمت داوبو ورکوي دداسي مځکی څخه به عشر ورکوي که نيم عشر؟ دوجوب په صورت کي آيا دا کيدي سي چه دسرکاري ټيکی اندازه منفي کړي دباقي عشر فرض

---

(۱) الدرالمختار على هامش ردالمحتار باب العشر ج۲ ص۷۴ – ۷۵. ط. س. ج۲ ص۳۳۴. ظفير

(۲) ردالمحتار باب العشر ج۲ ص۲۲. ط. س. ج۲ ص۳۲۵. ظفير

(۳) يجب العشر فى ارض غير الخراج الخ بلا شرط نصاب وبقاء حولان حول (الدر المختار على هامش ردالمحتار باب العشر ج۲ ص۲۲ ط. س. ج۲ ص۳۲۵ – ۳۲۲). ظفير

(۴) ولا زكوة فى ثياب البدن المحتاج اليها الخ واثاث المنزل ودور السكنى ونحوها وكذا الكتب اذا لم تنو التجارة وان ساوت نصابا درمختار قوله ونحوها اى كثياب البدن الغير المحتاج اليها والحوانيت والعقارات (ردالمحتار كتاب الزكوة ج۲ ص۱۰). ظفير

سي؟ دبهاولپور درياست دمځكو حكم چه دهغو حكمران مسلمان دي په مستفسرۀ مذكورۀ ؤ كي دباقي مځكو په شان دي كه متفاوت؟

جواب: د شامي په عبارت كي دا تصريح ده چه دهندوستان په مځكو كي عشر او خراج هيڅ نسته نه هغه عشري دي او نه خراجي، نوچه سركار كم محصول اخلي هغه ته خراج نه سي ويل كيدی دشامي عبارت دا دي: فان ارضها ليست ارض خراج او عشر الخ باب الركاز (۱) چه كم ځاي عشر واجبيږي هلته دټول پيداوار عشر واجبيږي هيڅ نه منفي كيږي او په كمو مځكو كي چي داوبو محصول وركول كيږي په هغو كي نيم عشر دي او په رياست اسلاميه كي عشر وركول په كار دي. فقط

<u>**پر نيمايي كوونكي باندي عشر**</u>: **سوال**: (۴۳) چه دكم سړي سره ذاتي مځكه نه وي اوهغه په لګان باندي مځكه واخلي او وې كري او ورسره قيمت هم نه وي بلكه سودي قرض واخلي او خرڅ يې كړي نو په داسي حالت كي پرده باندي په پيداوار كي عشر واجب دي كه نه؟

جواب: دصاحبينو دقول موافق دعشري مځكي عشر دمستاجر پر ذمه دی، فی الدر المختار: وقالا علی المستأجر او په باب العشر كي دا هم دي: ويجب مع الدين الخ (۲) ددي رواياتو موافق دپيداوار عشر پرده باندي واجب دي. فقط

<u>**چه په كمه مځكه محنت وكړي په نهر سره اوبه كړل سي**</u>: **سوال**: (۴۴) كاريز، جهلونه او ويالې چي ددرياب څخه دمځكي داوبه كولو دپاره وكيندل سي په دي كي پوره عشر دي او كه نيم؟

جواب: كه چيري مځكه عشري وي په دي صورت كي پكار دي چه عشر واجب سي. (۳)

---

(۱) ردالمحتار باب الركاز ج۲ ص۷۱. ط. س. ج۲ ص۳۲۰ اول به يې دعشر فتوي وركوله اوبيا به يې دوركولو خبره احتياطا ليكله بيا به يې وليكل چه لازمه نه ده په هندوستان كي دعشر چه كم مصارف دي چونكه دهغوي خانه پري نه كيږي غريبان فقيران داسلامي مدرسو طالبان ددوی ټولو دارومدار پرعشر باندي دي ددي وجه دعلماؤ فيصله هم داده چه عشر وركول ډير ښه دي پخپله مفتي علامه صاحب هم په ډيرو ځايونو كي هم داليكلي دي اوددرمختار شامي په عبارت كي په دويم ځای باب زكوة الغنم كي دي ددې حاصل هم دادي چه عشر وركول ضروري دي هغه عبارت دادي: اخذ البغاة والسلاطين الجائرة زكوة الاموال الظاهرة كالسوائم والعشر والخراج لا اعادة علی اربابها ان صرف الماخوذ فی محله الآتی فی باب المصرف وان لايصرف فيه فعليهم فيما بينهم وبين الله اعادة غير الخراج لانه مصارفه (درمختار) قوله فعليهم ديانة كما فی بعض النسخ قال فی الهداية وافتوا بان يعيدوها دون الخراج (ردالمحتار ج۲ ص۷۵. ط. س. ج۲ ص۲۸۸). ظفير

(۲) وګورئ: الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب العشر ج۲ ص۲۷ – ۷۵، ط.س. ج۲ ص۳۳۴. ظفير

(۳) يجب العشر الخ فی مسقی سماء ای مطر وسيح كنهر الخ ويجب نصفه فی مسقی غرب ای ولو كبير ودالية ای دولاب لكثرة المئونة وفی كتب الشافعية او سقاه بماء اشتراه وقواعدنا لا تاباه (درمختار) كذا نقله =

یو اشکال او دهغه جواب: **سوال**: (**۴۵**) تاسو په استفتاء نمبر **۲۸۳** کي (په دي رجسټرکي درج شده) تحرير کړي دي چه دفقهي درواياتو څخه معلوميږي چه دهندوستان په مځکو او باغونو کي عشر نسته په دي کی شبه دا ده چه په الامداد دشعبان په ګڼه کي يې ليکلي دي چه په پيداوار کي چه په هغه سره آمدني کول مقصود وي عشر واجبيږي که غله وي که ميوه، نوپه کښت او باغ دواړو کي واجب دي دغسی جواب دمولانا رشيداحمد قدس سره څخه منقول دی، په دي صورت کي څه حکم دي؟

جواب: په دي باره کي بي شکه احقر همدا ليکلي دي چه ستاسو په نقل او الامداد وغيره کي هم دا مضمون موجود دي، اوس لږ وخت سوي دي چه په شامي جلد ثاني باب الرکاز کي پردي عبارت مي نظر پريوتی چه کښته درج دی او دهغه حاصل دا دي چه ددار الحرب مځکي نه عشري دي اونه خراجي او دا مسئله دفقهاؤ په نزد متفق عليه او مسلمه او معلومه ده ددي عبارت دکتلو څخه وروسته ددي اصل معلوم سو چي قاضي ثناء الله پاني پتي قدس سره په مالا بدمنه کي ليکلي دي چه دعشر مسائل په دې کتاب (ما لا بُدَّ منه) کي ددي وجي څخه نه دي ليکل سوي چه ددي ځايونو مځکي عشري نه دي يا ددي ځای پرمځکو باندي عشر نسته اوکما قال، الغرض دشامي دتصريح څخه وروسته او دقاضي صاحب مرحوم دتحقيق پيش نظر اوس احقر ددي ليکل شروع کړل چه دهندوستان مځکی عشري نه دي په دي توګو کي بياهم احتياط په عشر ايستلو کي دي هغه عبارت دا دي: تنبيه: قال فی فتح القدير بالخراجية والعشرية ليخرج الدار فانه لا شيء فيها لكن ورد عليه الارض التی لا وظيفة فيها كالمفازة اذ يقتضی انه لا شيء فی الماخوذ منها وليس كذلک فالصواب ان لا يجعل ذلک لقصد الاحتراز بل للتنصيص علی ان وظيفتها المستمرة لا تمنع الاخذ مما يوجد فيها (الی ان قال) واقول يمكن الجواب بان المراد بالعشرية والخراجية ما تكون وظيفتهما العشر او الخراج سواء كانت بيد احد اولا فتشمل المفازه وغيرها بدليل ما قدمناه عن الخانية من ان ارض الجبل عشرية فيكون المراد الاحتراز بها عن دارالحرب ويدل عليه انه فی متن دار البحار عبر بمعدن غير الحرب فعلم ان المراد بمعدن ارضنا ولهذا قال القهستانی بعد قوله فی ارض خراج او عشر لا حصر فی ارضنا سواء كانت جبلاً او سهلاً مواتاً او ملكاً واحترز به عن داره وارضه وارض الحرب اهـ ثم رأيت عن ما قلته فی شرح الشيخ اسمعيل

= الباقانی فی شرح الملتقی عن شيخه البهنسی لان العلة فی العدول عن العشر الی نصفه فی مسقی غرب ودالية هی زيادة الكلفة كما علمت وهی موجودة فی شراء الماء ولعلهم لم يذكروا ذلك لان المعتمد عندنا ان شراء الشرب لا يصح الخ (ردالمحتار باب العشر ج۲ ص۲۲ – ۲۷ ط. س. ج۲ ص۳۲۵ – ۳۲۲). ظفير

حیث قال ویحتمل ان یکون احترازا عما وجد فی دارالحرب فان ارضها لیست ارض خراج او عشر الخ ([1]) ددي عبارت څخه معلومه سوه چه ددارحرب مځکه نه عشري ده او نه خراجي ددي وجي اوس دفقهاؤ دتصریح په وجه دهندوستان دمځکو څخه دعشر نفي لیکل کیږي او ددي په خلاف مو هیڅیري هم ونه لیدل چه په حربي مځکو کي دي دعشر دواجب کیدو تصریح وي لهذا مخکي چه کمه فتوي دعامي قاعدي موافق دعشر دوجوب ورکول کیده اوس مو هغه پریښودله. فقط

چه کمه مځکه په مشقت سره اوبه کول کیږي دهغې عشر: **سوال**: (۴۶) دمځکي یوه حصه چه دغره په اوبو سره اوبه کیږي لیکن په محنت او مشقت سره یې ورته بند جوړ کړی اوبه کیږي نوشرعًا پردي باندي عشر واجب دي که نیم عشر؟

جواب: شامي په باب الرکازکي ویلي دي: واحترز به عن داره وارضه وارض الحرب اهـ ثم رأیت عین ما قلته فی شرح الشیخ اسمعیل حیث قال ویحتمل ان یکون احترازا عما وجد فی دارالحرب فان ارضهما لیست ارض خراج او عشر الخ ([2]) ددي عبارت څخه واضحه کیږي چه دهندوستان مځکي نه عشري دي او نه خراجي اوکه چیري دا صورت ددارالاسلام په مځکه کي وي نو هلته به په صورت مذکوره کي عشر لازمیږي ځکه چه دباران او خوړ په اوبو باندي په اوبه سوي مځکه کي عشر واجبیږي کذا في الدر المختار. فقط

په کومو شیانو کي زکات نسته: **سوال**: (۴۷) په هدایه کي دي چه پرلاندي لیکل شیانو باندي زکات نه عائد کیږي: داوسیدو کور، داغوستلو کپړې، دکور اسباب، دسپرلۍ حیوان، خدمتي غلامان، مینځې، اسلحه داستعمال، پر باقي شیانو باندي زکات عائد کیږي دهدایې عبارت دا دی: قال ابوحنیفة فی قلیل ما اخرجته الارض وکثیره العشر سواء سقی سیحًا او سقته السماء دزمینداری او کروندګری په پیداوار کي عشر ایستل هم ضروري دي اوکه نه؟

جواب: دا څه چه تا دهدایه څخه نقل کړي دي صحیح دي پردي شیانو باندي زکات نسته او دمځکی پیداوار لږ وي که ډیر دامام ابو حنیفه رحمه الله په نزد عشر پرلازم دی او دا هم فقهاؤ لیکلي دي چه دعشري مځکي څخه که چیري خراج واخیستل سو نو عشر ساقط نه سو بلکه عشر ورکول په کار دي خپله پرفقراؤ باندي دي تقسیم کړي دعاشر وغیره

([1]) ردالمحتار باب الرکاز ج۲ ص۶۱. ط. س. ج۲ ص۳۲۰. ظفیر
([2]) وګورئ: ردالمحتار باب الرکاز ج۲ ص۶۱. ط. س. ج۲ ص۳۲۰. ظفیر

ضرورت نسته لیکن په رد المحتارکي باب الرکاز [۱] کي نقل کړي دي چه دحرب په مځکو کي عشر او خراج هیڅ نسته سرکار چه کم محصول واخیستی دهغه څخه ماسوا نور څه ورکول واجب نه دي. فقط

دهندوستان پرمځکه باندی عشر واجب نه دی: **سوال**: (۴۸) دهندوستان پرمځکو باندي عشر واجب دي اوکه نه؟

جواب: دشامي دتصریح څخه معلومیږي چه واجب نه دي. [۲]

دکشمیر او پنجاب مځکي عشري دی که خراجي؟ **سوال**: (۴۹) دهندوستان، کشمیر او پنجاب مځکی عشري دي که خراجي؟

جواب: قال فی الشامی فی باب الرکاز فی قوله فی ارض خراجیة او عشریة الخ واحترز به عن داره وارضه وارض الحرب ثم رأیت عین ما قلته فی شرح الشیخ اسمعیل حیث قال ویحتمل ان یکون احترازاً عما وجد فی دارالحرب فان ارضها لیست ارض خراج او عشر انتهی ص۴۵ جلد۲، اقول وبه ظهر وجه قول مؤلف ما لا بد منه حیث قال رحمه الله : *وہمچنین احکام زمین عشری کہ درین دیار نیست ومسائل عاشر کہ بر طرق وشوارع باشد مذکور نکردہ شد.* هرڅه چه احکام دعشري مځکو دي چه په دي علاقوکي نسته او دعاشر مسائل چه پر لارو او شوارع (سړکونو) باندي وي نه دي ذکر سوي. فقط

دسند او بنګال په مځکه کي دعشر حکم: **سوال**: (۵۰) دهندوستان، پنجاب، سند، پورب او بنګال مځکی عشري دي که خراجي؟

۲: دعشري یا خراجي کیدو وجه څه ده؟

۳: دنصارٰی ؤ حاکم دوخت چه دمځکی خراج اخلي دا خراج دی که عشر؟

جواب: په ردالمحتار جلد ۲ باب الرکازکي دي: قال القهستانی بعد قوله فی ارض خراج او عشر الاحصر فی ارضنا سواء کانت جبلاً مواتا او ملکاً واحترز به عن داره وارضه وارض الحرب ثم رأیت عین ما قلته فی شرح الشیخ اسمعیل قال ویحتمل ان یکون احترازاً عما وجد فی دارالحرب فان ارضها لیست ارض خراج او عشر الخ [۳] ص۴۵، داخري جملی: فان ارضها لیست ارض خراج وعشر څخه واضحه ده چه مځکی دهندوستان، پنجاب وغیره نه عشري دي او نه خراجي او سرکار انګریز چه کم محصول

---

(۱) وګوری: ردالمحتار باب الرکاز ج۲ ص۲۱ ویحتمل ان یکون احترازا عما وجد فی دار الحرب فان ارضها لیست ارض خراج اوعشر (ردالمحتار باب الرکاز ج۲ ص۲۱. ط. س. ج۲ ص۳۲۰). ظفیر

(۲) فان ارضها لیست ارض خراج اوعشر (ردالمحتار باب الرکاز ج۲ ص۲۱. ط. س. ج۲ ص۳۲۰). ظفیر

(۳) ردالمحتار باب الرکاز ج۲ ص۲۱. ط. س. ج۲ ص۳۲۰. ظفیر

اخلي هغه نه عشر دي اونه خراج. فقط

دریاست په مځکه کي عشر سته او که نه؟ **سوال**: (۵۱) موږ خلګ دریاست اوسیدونکي یو او ټیکس مقرر سرکار ته ورکوو پرموږ باندي عشر واجب دي او که نه؟

جواب: په خراجي مځکه کي عشر نه وي او خراج او عشر نه جمع کیږي لهذا دمځکی کم محصول چي سرکارته ورکړل سي په هغه کي عشر لازم نه دي: لانه لایجتمع العشر والخراج، شامي. (۱)

دهندوستان مځکي نه عشري دي اونه خراجي مګر احتیاطاً عشر ایستل په کار دي: **سوال**: (۵۲) دهندوستان مځکی عشري دي اوکه خراجي؟

جواب: په شامي باب الرکاز کي دا تصریح کړي ده چه دهندوستان مځکی نه عشري دي اونه خراجي لیکن بعضي قواعد دمسلمانانو دمملوکه مځکو دعشري کیدو مقتضي دي ځکه چه وظیفه دمسلمانانو دمملوکه مځکو عشر دی، پردي بناء باندي احوط دا دي چه مسلمانان دخپلو مملوکه مځکو عشر ادا کړي خصوصاً دهغه مځکو چه همیشه دټول ژوند دپاره بغیر ټیکس ورکړل سوي دي او په هغوکي محصول نه ورکول کیږي. (۲)

دمځکي مالک، زمیندار او أجرتي کروندګر: **سوال**: (۵۳) زمیندار هغه دي چه حاکم دوخت ته خراج ورکوي یا بل څوك چا چه دده څخه په اجرت سره واخیسته هغه مستاجر دي که نه؟ زمیند ار خپله مالك دي که دسرکار سره اجرتي دي؟ دعشر دپاره ملِك شرط دي اوکه نه؟ پرمستاجر اومزارع باندي دعشر دواجب کیدو دپاره عشري مځکه شرط ده اوکه نه؟

جواب: زمیندار هغه دي چه سرکارته خراج ورکوي او دمځکی مالك زمیندار دي او دعشر دپاره ملك شرط دي لیکن دمزارعت او اجارې په صورت کي دصاحبینو مذهب چه مفتی به دی هغه دا دي چه په مزارعت کي پرزمیندار او مزارع دواړو باندي په اندازه دحصې عشر واجب دي او داجاری په صورت کي عند الصاحبین پرمستاجر باندي عشر واجب دي او امام صاحب پرموجر باندي عشر واجب فرمایي بعضو فقهاؤ دامام صا حب پرمذهب باندي فتوي ورکړیده لیکن په دي زمانه کي دصاحبینو پرمذهب باندي فتوي ورکول اقرب دي اوپه درمختارکي دحاوي څخه منقول دي: وبقولهما ناخذ وفی المزارعة ان البذر من رب الارض فعلیه ولو من العامل فعلیهما بالحصة الخ. (۳)

---

(۱) ردالمحتار باب العشر ج۲ ص۷۲. ط. س. ج۲ ص۳۲۰. ظفیر

(۲) اخذ البغاة والسلاطین الجائرة زکوة الاموال الظاهرة کالسوائم والعشر والخراج لا اعادة علی اربابها ان صرف الماخوذ فی محله الاتی ذکره والا یصرف فیه فعلیهم فی بینهم وبین الله (درمختار) ای دیانة (ردالمحتار باب زکاة الغنم ج۲ ص۳۲. ط. س. ج۲ ص۲۸۸). ظفیر　=

چه کم خراج سرکار اخلي په هغه سره عشر ساقطيږي اوکه نه؟ **سوال**: (۵۴) کم محصول چه حکومت يا سرکار ته ورکول کيږي، دا په عشر کي حسابيږي يااوکه علاوه دسرکاري محصول څخه دعشر ايستل په کار دي؟

جواب: چه کم محصول سرکار ته ورکول سي هغه عشر ساقطوي ځکه چه عشر او خراج نه جمع کيږي (اصل دا دي چه په دارالحرب کي نه عشر سته اونه خراج که نه نو حکومت چه کم اخلي دهغه مصرف هغه نه دی کم چي دعشر وي، (۱) ظفير). فقط

دعشر مصرف او عشري مځکه: **سوال**: (۵۵) په زمانهٔ حال کي عشري مځکه کمه ده او ددي څه حکم دي او ددي مصرف څه دي؟

جواب: درد المحتار دعبارت څخه واضح کيږي چه په غير اسلامي ښارونو کي عشري او خراجي مځکی نسته نو عبارت ددي په باب الرکاز کي دا دي: احترازًا عما وجد فی دارالحرب فان ارضها ليست ارض خراج او عشر (۲) اوکه عشري کيدل تسليم کړل سي نو دمحصول سرکاري دادا کولو په وجه عشر واجب نه پاته کيږي ځکه چه عشر او خراج نه جمع کيږي کذا في کتب الفقه (۳) او که چيري احتياطاً عشر ورکړل سي نو هر يو مسلمان دي دخپلي مملوکه مځکی عشر فقير او مسکينانو ته ورکړي ځکه دمسلمانانو دمملوکو مځکو اصل وظيفه عشر دي او مصرف دعشر هغه دي کم چه دزکات مصرف دي. (۴)

دهندوستان مځکه او په هغی کي دعشر حکم: **سوال**: (۵۶) دهندوستان مځکه عشري ده که خراجي او په عشرکي زکات واجب دي اوکه نه چه زميندار ددوی کروندګري کوي او دمځکو ټيکس سرکارته ورکوي او چه څومره قدر ده ته منظور وي په خپل کښت کي يې

---

(۳) دعشر دپاره دځمکي دمالك شرط نسته بلکه دپيداوار دمالك شرط سته په دی وجه چي عشر په پيداوار کي دي نه په ځمکه کي: افاد ان ملك ارض ليس بشرط لوجوب العشر وانما الشرط ملك الخارج لانه يجب فی الخارج لا فی الارض فکان ملکه لها وعدمه سواء بدائع (ردالمحتار باب العشر ج۳ ص۷۲. ط. س. ج۲ ص۳۲۵). ظفير

(۱) الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب العشر ج۲ ص ۷۵ - ۷۶. ط. س. ج ۲ ص ۳۲۵. ظفير

(۲) يحتمل ان يکون احترازا عما وجد فی دارالحرب فان ارضها ليست ارض خراج وعشر (ردالمحتار باب الرکاز ج۲ ص ۷۱. ط. س. ج۲ ص۳۲۰). ظفير

(۳) لانه لا يجتمع العشر والخراج (ردالمحتار باب العشر ج۲ ص۷۲. ط. س. ج۲ ص۳۲۵). ظفير

(۴) اخذ البغاة والسلاطين الجائرة زکواة الاموال الظاهرة کالسوائم والعشر والخراج لا اعادة علی اربابها ان صرف الماخوذ فی محله ای فی باب المصرف وان لايصرف فيه فعليهم فيما بينهم وبين الله اعادة غير الخراج (درمختار) قوله فعليهم ای ديانة کما فی بعض النسخ قال فی الهداية وافتوا بان يعيدوها دون الخراج (ردالمحتار باب زکوة الغنم ج۲ ص۳۲. ط. س. ج۲ ص۲۸۸). ظفير

ساتي چه کمي مځکې خپله کري دهغو په پيداوار کي زکات واجب دی اوکه نه زکات دغلی او دتجارت دمال څخه چه کم ايستل کيږي په هغه کي دکال قيد سته اوکه دغلی په تياريدو باندي واجيږي؟ او زکات به دپوره غلی په حساب سره ورکول کيږي اوکه خرڅ او اخراجات به منها کوي؟

جوابپه : په رد المحتار باب الرکاز کي يې دا تصريح کړې ده چه په هندوستان غوندي ملك کي هيڅ مځکه عشري او خراجي نسته بناءاً پردي چه کم محصول سرکار اخلي هغه ته خراج نه ويل کيږي او چه کله هيڅ مځکه دهندوستان عشري نه ده نو عشر به هم واجب نه وي ليکن که چيري احتياطاً مسلمانان دخپلو مځکو عشر ورکړي نو ښه ده اوعشر يعني لسمه حصه دپيداوار چي کم ځای واجب ده نو پرپوره پيداوار باندي واجب ده او چه کم وخت غله پيدا سي نو هغه وخت واجب دی دکال تيريدو قيد په دي کی نسته اوپه مال دتجارت کي دټول کال تيريدو څخه وروسته زکات لازميږي او عشري مځکه که چيري په مزارعت باندي ورکړل سي نو ددي په پيداوار کي دصاحبينو په نزد دحصی موافق پرهر يوه باندي يعنی پرکروندګر او دمځکي پرمالك باندي عشر لازميږي او داجارې په صورت کي دامام صاحب په نزد پرموجر باندي او دصاحبينو په نزد پرمستاجر باندي عشر لازميږي. (۱)

<u>دغلي زکات</u>: **سوال**: (۵۷) يو سړي مقروض دي چه کمی روپۍ داخراجاتو څخه بچ کيږي هغه په قرض کي ورکوي ليکن څه چه په کور کي غله وي دهغې غلې څخه زکات باسي دا درست دي اوکه نه؟

جواب: په درمختار باب العشر کي دي: ويجب مع الدين يعني عشر باوجود دقرض هم لازميږي نوچه کم ځاي عشر لازم دي هلته دعشر دوجوب دپاره قرض مانع نه دي (۲) او چه کم ځاي عشر واجب نه دي هلته يې هم په ورکولو کي هيڅ نقصان نسته کما هو ظاهر. فقط

<u>پرمزارع باندي عشر سته اوکه نه؟</u> **سوال**: (۵۸) يو سړي مسلمان دي دخپل کنبت مځکه په

---

(۱) ويجب العشر الخ بلاشرط نصاب وبلا شرط بقاء وحولان حول الخ والعشر على الموجر وقالا على المستاجر وفی الحاوی وبقولهما ناخذ وفی المزارعة ان کان البذر من رب الارض فعليه ولو من العامل فعليهما بالحصة (درمختار) قوله بلا شرط نصاب فيجب فيما دون النصاب بشرط ان يبلغ صاعا قوله حولان حول حتی لو اخرجت الارض مرارا وجب فی کل مرة لاطلاق النصوص (ردالمحتار باب العشر ج۲ ص۶۶ - ۶۷ وج۲ ص۷۴ - ۸۵. ط. س. ج۲ ص۳۲۵ - ۳۵۵). ظفير

(۲) ويجب مع الدين (الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب العشر ج۲ ص۶۷. ط. س. ج۲ ص۳۲۲). ظفير

خپل مملوکه حیوان سره په مختلفو جنسونو زراعت کوي دمځکي په بابت په سرکار کي مقرره ټیکس داخلول کیږي او دکلي مختلف کسب کاره مثلاً ډیر، پښ، ترکان، ډهنګر وغیره مقرره حقوق دملك درواج موافق ادا کیږي دا حقداري په معاوضه کي دخدمت کوي آیا پرمزارع باندي ددغه مذکوره حقوقو څخه علاوه دعشر ادائیګي هم لازمه ده اوکه څه؟ دمسلمانانو په حکومت کي صرف عشر اخیستل کیدی په بیت المال کي به دا رقم جمع سو او دمسلمانانو په کار به راتلی اوس صورت حال بل دي په دي زمانه کي دمملکت انتظام بدل سوي دي او پرهره مځکه باندي دهغی دحیثیت په لحاظ سره محصول اخیستل کیږي دغه محصول په عشر کي شمارل کیږي اوکه نه؟ په صورت ثانیه کي دحقیقي اخراجاتو دوضع کولو څخه وروسته چه کم پیداوار وي په هغه کي به عشر ادا کیږي اوکه نه او دعشر مصرف به په موجوده زمانه کي څه وي؟

۲: پرهر پیداوار باندي به جلا جلا عشر ادا کیږي اوکه دمختلفو اجناسو څخه چه ټوله آمدني وي دهغه قیمت به ولګول سي لسمه حصه به دعشر په نوم جدا کړل سي؟

جواب: اقول قال فی الدرالمختار باب العشر یجب العشر فی ارض غیر الخراج الخ بخلاف الخراجیة لئلا یجتمع العشر والخراج الخ ملخصا قوله ارض غیر الخراج اشار الی ان المانع من وجوبه کون الارض خراجیة لانه لا یجتمع العشر والخراج الخ (1) ددي عبارت څخه واضحه سوه چه عشر او خراج نه جمع کیږي نوچه دکمي مځکی څخه خراج یعني سرکاري محصول واخیستل سي په هغی کي عشر نسته: وفی الدرالمختار ایضاً بلا رفع مئون الزرع وبلا اخراج البذر لتصریحهم بالعشر فی کل الخارج الخ (2) ددي نه معلومه سوه چه په کمه مځکه کي عشر واجبیږي دهغه په ټول پیداوار کي واجبیږي دکسب ګرو حقوق او دفصل خادمان وغیره نه مستثني کیږي او نه دا حقوق دعشر دوجوب مانع دي البته خراجي کیدل دمځکی دعشر دوجوب مانع دي او مصرف دعشر هغه دي کم چه دزکات مصرف دي چه مذکور دی په دې قول دباري تعالي کي: انما الصدقات للفقراء والمساکین، الایة، کذا فی الدر المختار وردالمحتار (3). فقط

۲: په عشر کي قیمت ادا کول هم درست دي: وجاز دفع القیمة فی زکوة وعشر وخراج (4)

---

(1) ردالمحتار باب العشر ج۲ ص۶۲. ط. س. ج۲ ص۳۲۵. ظفیر

(2) الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب العشر ج۲ ص۶۹ – ۷۰. ط. س. ج۲ ص۳۲۸. ظفیر

(3) ای مصرف الزکوة والعشر الخ هو فقیر ومسکین الخ (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب المصرف ج۲ ص۷۹. ط. س. ج۲ ص۳۳۹). ظفیر

(4) الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب زکاة الغنم ج۲ ص۲۹. ط. س. ج۲ ص ۲۸۲ – ۲۸۵. ظفیر

وفطرة ونذر وكفارة غير الاعتاق الخ نومعلومه سوه چه په مختلفو اجناسوكي دهر يوه جنس عشر جدا ايستل ضروري نه دي بلكه دقيمت حساب به ولګوي چه په كم جنس كي غواړي دټولو مختلفو جنسونو عشر دي ادا كړي يا دي په نقدو سره ادا كړي. فقط

په نقد كرايه والا مځكه كي عشر سته اوكه نه؟ **سوال:** (۵۹) دهندوستان مځكی عشري دي كه خراجي يوه مځكه زيد په نقد كرايه باندي وركړه په دي كی زكات واجب دي كه نه؟ زيد سركار ته دمځكي مال ګزاري ادا كوي نو دده څخه عشر ساقطيږي كه نه؟ او دعشر غله صدقه كول څنګه دي؟

جواب: په شامي باب الركازكي دي چه دهندوستان مځكی نه عشري دي او نه خراجي ليكن احتياط دعشر په ادا كولو كي دي اوچه كمه مځكه عشري وي دهغی په پيداواركي عشر واجبيږي او كه چيري دمځكو دآمدنی څخه دمالك دنصاب په اندازه يا دكروندګر دحاجات ضروريه نه زيات سي نو دكال دتيريدو څخه وروسته پردي باندي به زكات واجب وي او دعشر دغلی قيمت كه چيري صدقه كړل سي نو داهم درست دي او دعشري مځكی عشر په خراج اخيستو سره نه ساقطيږي. (۱)

په بيعه سوي او موهوبه مځكو كي عشر: **سوال:** (۲۰) دزيد سره بيع سوي مځكی اوهبه كړل سوي هم دي آيا پرزيد باندي ددغه مذكوره مځكو عشر سته اوكه نه؟

جواب: عشر پرده باندي نسته. (۲)

په غنم، تل، شړشم او پټ سن كي دزكات طريقه څه ده؟ **سوال:** (۲۱) دكرلو شيان: وريجي، تل، شړشم، پټ سن وغيره دزراعت زكات به څومره وركول كيږي؟ دمزروعه مځكی خزانه سالانه خو زميندار ته وركول كيږي اوس په پيداوار كي دعشر يا زكات وركولو څه طريقه ده؟

جواب: لسمه حصه يا شلمه حصه دټول پيداوار وركول ديته عشر او نيم عشر ويل كيږي. او دكمي مځكي محصول چي سركار اخلي په هغی كي عشر او نيم عشر نسته. (۳)

---

(۱) اخذ البغاة والسلاطين الجائرة زكوة الاموال الظاهرة كالسوائم والعشر لا اعادة على اربابها ان صرف الماخوذ فى محله الاتى فى باب المصرف وان لا يصرف فيه فعليهم فيما بينم وبين الله اعادة غير الخراج (درمختار) اى ديانة قال فى الهداية وافتو بان يعيدوها دون الخراج (ردالمحتار باب زكوة الغنم ج۲ ص۳۲. ط. س. ج۲ ص۲۸۹). ظفير

(۲) انما الشرط ملك الخارج لانه يجب فى الخارج لا فى الارض (ردالمحتار باب العشر ج۲ ص۲۷. ط. س. ج۲ ص۲۲۲). ظفير

(۳) ځكه چي په دارالحرب كي عشر نسته: لانها ليست فى ارضها عشر (ردالممتار باب العشر ج۲ ص۲۷. ط. س. ج۲ ص۲۲۲). ظفير

عشر څلوېښتمه حصه نه ده لسمه حصه ده: **سوال**: (۲۲) که چیري یوه مځکه دیو غیر مذهب یعنی دهندو وي ددې ځخه وروسته نصاراوو پرهغی قبضه کړي وي نو ددي په پیداوار کي څلویښتمه حصه ایستل په کار دي دا صحیح ده که غلط؟

جواب: دمځکي په پیداوار کي دمځکی پرمالك باندي یا لسمه حصه راځي یا شلمه دڅلویښتمی حصی دورکولو حکم دمځکی په پیداوارکي نسته هسي خو دنفلي صدقي په طریقه سره چه هرڅومره غواړي وردي کړي لیکن فرض نه دي. (۱). فقط

دمعافي والا مځکی په پیداوار کي عشر سته اوکه نه؟ **سوال**: (۲۳) دزید په قبضه کي ځه مځکه معافي ده دا عشري ده که نه؟ زید مذکوره مځکه که چیري خپله وکرله نو په دي باندي بغیر دلحاظه دصاحب نصاب کیدو که چیري زکات واجب سي نو څومره قدر به وي؟ که چیري زید دغه معافي والا مځکه یو غیر سړي ته په ټیکس یا بټائي (نیمایي) باندي ورکړي نوهم به زکات ورکوي که نه؟ که چیري ورکوي به یې نو څومره قدر به ورکوي؟ او یوه ته که دواړو ته؟

جواب: دشامي دروایت باب الرکاز ځخه دا معلومیږي چه دهندوستان غوندي ښارونو مځکی عشري او خراجي نه دي (۲) او احتیاط په دي کي دی چه ددغه مځکی دپیداوار عشر ورکړل سي. یعنی که چیري خپله یې کرلي وي نو دتمام پیداوار عشر خپله ادا کړي اوکه چیري چاته یې په مزارعت یعنی نیمایي باندي ورکړي وي نو دخپلي حصی په اندازه به هر یو عشر ورکوي اوپه نقد اجاره ورکولو کي عشر دمؤجر پرذمه دی یا دمستاجر علي اختلاف القولین. (۳)

عشر واجب دي که فرض؟ **سوال**: (۲۴) عشر ایستل فرض دي که واجب که ځه او چه ځه سرکارته ورکول کیږي دهغه ځه حکم دي؟

جواب: داسي تصریح په شامي کي ده چه په دارالحرب کي چیري چه دکفر حکومت دي هلته پرمځکو باندي عشر او خراج هیڅ نه دي واجب اوچه ځه سرکار ته محصول ورکول کیږي هغه دخراج په نوم سره موسوم کول نه دي په کار بهر حال دمسلمانانو پرذمه

---

(۱) ای یجب العشر فی الاول ونصف العشر فی الثانی الخ (ردالمحتار باب العشر ج۲ ص۲۹. ط. س. ج۲ ص۳۲۸). ظفیر

(۲) ویحتمل ان یکون احترازا عما وجد فی دارالحرب فان ارضها لیست ارض خراج اوعشر (ردالمحتار باب الرکاز ج۲ ص ۷۱. ط. س ج۲ ص۳۲۰). ظفیر

(۳) والعشر علی المؤجر وقالا علی المستاجر وبقولهما ناخذ وفی المزارعة ان کان البذر من رب الارض فعلیه وان کان من العامل فعلیهما بالحصة (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب العشر ج۲ ص۹۷۵. ط. س. ج۳ ص۳۳۴). ظفیر

دداسي مځکو په پيداوار کي عشر واجب نه دي هسي که يې علي سبيل الاحتياط ورکړي نو بهتره ده ليکن فرض يا واجب دزکات په شان نه دي دشامي عبارت په باب الرکاز کي دا دي: ويحتمل ان يکون احترازا عما وجد فی دارالحرب لان ارضها ليست ارض خراج او عشر الخ ([1]) نوجمله د: فان ارضها ليست ارض خراج او عشر الخ په دي باره کي صريح ده چه ددارالحرب په مځکه کي عشر وغيره نسته هسي چه کم څه حکمان اخلي نو هغه څوك بندولي سي؟ او هغه چه څه وغواړي هغه نوم پرکښيږدي، نوچه کله دا مسئله معلومه سوه نو ددي څخه وروسته دهيڅ سوال دجواب ضرورت پاته نه سو. فقط

په سرکاري ټيکس سره عشر معاف کيږي اوکه نه؟ **سوال:** (۲۵) هغه محصول چي دلصاري دپاره دهند په مځکه کي دمځکی دمالك دطرف څخه ورکول کيږي عشر ساقطوي اوکه نه؟

جواب: دا ساقطونکي دعشر دي. ([2])

دلس پنځه بيګه ([3]) مځکي والا پرذمه عشر: **سوال:** (۲۶) ديو کروندګر سره لس پنځه بيګه مځکه ده پردي باندي زکات او عشر واجب دي اوکه نه؟

جواب: په دي صورت کي زکات عشر وغيره پرده باندي واجب نه دي، په شامي کي يو روايت دي چه ددار الحرب پر مځکو باندي عشر نسته. ([4])

دسرکاري ټيکس ورکولو باوجود عشر به ورکول کيږي اوکه نه؟ **سوال:** (۲۷) دسرکاري معاملی با وجود زميندار خلق به دپيداوار داجناسو څخه عشر ورکوي اوکه نه؟

جواب: دعشر وجوب په دي صورت کي نسته اوپه شامي باب الرکاز کي ئي ليکلي دي چه ددارالحرب مځکی عشري اوخراجي نه دي دا دويم صورت دعشر دعدم وجوب دي. ([5]). فقط

دکمي مځکي خراج چه هندو زميندار اخلي په هغي کي عشر: **سوال:** (۲۸) زما سره څه مځکه ده دڅه مځکي خراج هندو زميندار ته ورکوم او دڅه مځکی خراج مسلمانانو ته ورکوم اوس موږ به عشر ورکوو اوکه نه؟ زه مځکه په نيمايي باندي ورکوم ليکن تخم عامل ورکوي په دي حالت کي به په کم حساب سره عشر ورکول وي؟ که چيري نيم تخم

([1]) ردالمحتار باب الرکاز ج۲ ص۲۱. ط. س. ج۲ ص۳۲۰. ظفير

([2]) ايضا. ظفير

([3]) بيګ: دمځکي يو مقدار دي چي څلور ۴ کاناله يا اتيا ۸۰ مرلی کيږي.

([4]) فان ارضها ای دارالحرب ليست ارض خراج وعشر (ردالمحتار باب الرکاز ج۲ ص۲۱، ط. س. ج۲ ص۳۲۰).

([5]) ايضاً. ط. س. ج۲ ص۳۲۰. ظفير

زه ورکړم او نیم عامل ورکړي نو بیا به په کم حساب سره ورکول وي؟
جواب: دشامي دیوه روایت څخه معلومیږي چه ددار الحرب په مځکوکي خراج او عشر هیڅ نسته او چه په کمو عشري مځکو کي عشر لازم دي اوفرض دي په هغه کي یې فتوي په دي باندي لیکلی ده چه دمزارعت په صورت کي پرزمیندار مالك باندي دحصې په قدر عشر لازمیږي یعنی چه په څومره اندازی باندي غله دچا په حصه کي راسي هغه به دهغی عشر ادا کوي. (۱)
عشر پر مزارع باندي دی که پرمالک باندي؟ سوال: (۶۹) دمزارعت په صورت کي عشر دمځکی پرمالك باندي دي که پر مزارع یا پرهرو دواړو لازم دي؟
جواب: هغه علاقي چه مځکي دهغی عشري دي دمزارعت په صورت کي دعشر دحصی په اندازه دمځکی پرمالك او مزارع باندي لازم دي (۲) یعني هر یو به ددي څخه دعشر حصه خپله ورکوي لیکن په رد محتار کي تصریح ده چه دهندوستان مځکي نه خراجي دي او نه عشري.
دهندوستان مځکي عشري دی که خراجي؟ سوال: (۷۰) ددي ځاي مځکي خراجي دي که عشري او دما لابدمنه دفارسي عبارت: چه وهمچنین احکام عشر زمین عشري که درین دیار نیست، مطلب څه دي؟
جواب: په شامي باب الرکاز کي یې دا روایت نقل کړي دي چه ددار الحرب مځکي عشري او خراجي نه دي په دي بناء باندي قاضي ثناء الله صاحب پاني پتي قدس سره په ما لا بدمنه کي لیکلي دي چه عشري مځکی په دي ملکونو کي نسته یعني چونکه هندوستان دارالحرب دي ددي وجې عشري مځکه دلته نسته او دشامي درروایت څخه معلومه سوه چه خراجي هم نه دي. (۳)
دنهری مځکي عشربه څه وي؟ سوال: (۷۱) دنهر ټول اوړدوالي چي دانصارو دسعي او کوشش له وجي جوړ سوي او ددي څخه مځکی بالکل وران او او ویجاړ وو، کم پیداوار به چي مځکي کیده هغه دبارانو په اوبو کیده او اوس دنهر له وجي څخه هرې خوا ته اوبه رواني دي او رسد او خراج هم اخلي، بعضي مولوي صاحبان وایي چه دنهر ټوله

(۱) وفی المزارعة ان کان البذر من رب الارض فعلیه ولو من العامل فعلیهما بالحصة (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب العشر ج۲ ص۷۵. ط. س. ج۲ ص۳۳). ظفیر
(۲) ایضا. ظفیر
(۳) یحتمل ان یکون احترازاً عما وجد فی دارالحرب فان ارضها لیست ارض خراج اوعشر (ردالمحتار باب الرکاز ج۲ ص ۷۱. ط.س. ج۲ ص۳۲۰). ظفیر

اراضي عشري ده باید چې عشر یې ورکول سي اوبعضي ددوي برعکس او بعضي دیوي حصې په نسبت وایي، کوم قول راجح او کم قول مرجوح دی؟

جواب: په شامي کي راغلي دي چې ددار الحرب په اراضي کي عشر اوخراج نسته ددي روایت څخه معلومیږي چه دهندوستان په اراضي کي عشر واجب نه دی او همدارنګه فقهاؤ صریحًا ویلي دي که چیري په عشري مځکه کي دهغې اوبه ورکول سي چې ددي محصول او قیمت سرکارته ورکول کیږي په هغې کي نیم عشر شلمه حصه واجبه ده (۱) دا هم تصریح ده چې عشر دخراج سره نه جمع کیږي. فقط

په نهري مځکه کي عشر: **سوال**: (۷۲) دنهري مځکې په پیداوار کي څومره زکات واجبیږي؟

دڅاه والا په مځکه کي عشر: **سوال**: (۷۳) په څاه باندي په اوبه سوي مځکې کي څومره زکات واجبیږي؟

په باراني مځکه کي عشر: **سوال**: (۷۴) په باراني مځکه کي څومره قدر عشر واجب دي؟

په تالاب سره په اوبه سوي مځکه کي عشر: **سوال**: (۷۵) چه په کمه مځکه کي اوبه خوري په باراني تالاب یعني په جیل یا تالاب سره وکړل سي په هغه کي څومره قدر زکات واجب دي؟

۵: زید زمیندار دي بکر دزید هالي (یعني ایوه چلولو والا) دي چه دکښت په ټول پیداوار کي په یوه پر شپږ ۶/۱ حصه شریك دي او دباقي زید مالك دي، بالفرض شپیته منه غله دټول کښت پیداوار دي نو زید ته دپنځوس منه زکات ورکول په کار دي که شپیته منه؟

جواب: دفقهې دکتابونو دبعضو روایاتو څخه معلومیږي چه دهندوستان په مځکه عشر نسته لیکن چه په کم ځاي او کمو مځکو کي عشر وي هلته دسوالونو جوابونه دا دي: ۱. په دي کی عشر واجب نه دي- ۲. په دې کي نیم عشر یعني شلمه حصه واجبه ده. ۳. اوپه باراني مځکه کي عشر واجب دي او دجیل یا تالاب څخه په خپل محنت سره په اوبو ورکولوکي شلمه حصه واجب ده. ۴ - ۵: دپنځوس منه زکات دي زید ورکړي او دلس منه دي بکر ورکړي. (۲) فقط

---

(۱) ویجب نصفه فی مسقی غرب ودالیة الخ وفی کتب الشافعیة اوسقاه بما اشتراه وقواعدنا لا تاباه (الدر المختار علی هامش رد المحتار باب العشر ج۲ ص۲۹. ط. س. ج۲ ص۳۲۸). ظفیر

(۲) یجب العشر الخ فی مسقی سماء ای مطر وسیح کنهر الخ ویجب نصفه فی مسقی غرب ودالیة او سقاء بماء اشتراه (الدر المختار علی هامش رد المحتار باب العشر ج۲ ص۲۱ – ۲۸ ط. س. ج۲ ص۳۲۲ – ۳۲۸). ظفیر

دعشر مسئله: سوال: (۷۳ الف) یو کروندګر په خپله مځکه کي شپږ روپۍ ټول اخراجات دکروندي ولګول پیداوار یې داتو سوو روپو حاصل کړه نو پردي به زکات دڅومره رقم واجب وي؟

۲: دغه رنګه په دویمه مځکه کي یې شپږ سوه روپۍ ولګولي په فصل باندي یې ټول دپنځه سوه روپو پیداوار یعنی داصل دولت څخه هم دیو سلو روپو نقصان وسو نو اوس دزکات څه شکل دي؟

۳: یو کروندګر دلوړ سوال ۱ مطابق ټول اخراجات دمځکي برداشت کوي او دیوې دستې په ذریعه دڅاه څخه اوبه ورکوي او دکښت څخه فصل حاصلوي، هغه به زکات څه رنګه ادا کوي؟

۴: نن صبا چه کمی دعوی په عدالت کي دائریږي او په هغو کي دمدعي خرچه په وکیل اوګواه وغیره وغیره کي ډیر څه کیږي او پرمدعي علیه باندي ډګري دده دخرچ کیږي نو مدعي ته داصل رقم څخه علاوه دخرڅ په رقم چه کمه ډګري ورکول کیږي دهغه دمدعي دپاره اخیستل جائز دي اوکه نه؟

جواب: (۱، ۲، ۳) چه په کمو مځکو کي عشر واجب دي دهغو څخه دټول پیداوار عشر ایستل واجب دي بغیر دوضع کولو داخراجاتو څخه کما في الدر المختار: بلا رفع مئون الذرع ([1]) او په مزارعت کي پرکروندګر او دمځکی پرمالك باندي دحصی په اندازه عشر واجب دي ([2]) او دشامي روایت دباب الرکاز څخه معلومیږي چه ددار الحرب په مځکوکي عشر نسته اوپه نمبر ۳ کي یو دویم تفصیل دي: هغه دا چه په دې کي شلمه حصه ایستل واجب دي باقي جواب په مذکوره دستور سره دي۔

۴: دا اخراجات په اصل کي دمدعي پرذمه دي لیکن دمدعي علیه دسرکښۍ په وجه دعوي وکړل سي نو دمدعا علیه څخه اخیستل جائز دي چه کم واقعي خرڅ دي هغه دي واخلي باقي دي ورواپس کړي۔ فقط

آیا په عشر کي دعامل طلب کول شرط دي؟ سوال: (۷۴ با) زید وایي چه دعشر دادا کولو دپاره دعامل طلب شرط دي چه ترڅوپوري عامل طلب ونه کړي اداکول یې واجب نه دي؟

جواب: دزید قول صحیح نه دي دعشري مځکی صاحب که چیري خپله ددي عشر ادا کړي نو دا هم درست دي: ویسقط عن صاحب الارض کما لو ادی بنفسه الخ شامی ([3])

([1]) الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب العشر ج۲ ص۶۹. ط. س. ج۲ ص ۳۲۸. ظفیر

([2]) وفی المزارعة ان کان البذر من قبل رب الارض فعلیه ولو من العامل فعلیهما بالحصة (ایضا ج۲ ص۷۵). ظ

([3]) ردالمحتار باب العشر ج۲ ص۲۷ ط. س. ج۲ ص۳۳۵. ظفیر

البته دابحث جدا دي چه په دارالحرب کي عشر واجب دي که نه؟ شامي تصريح کړيده په باب الرکاز کي چيددار الحرب مځکه نه عشري ده نه خراجي، نو ددي څخه معلوميږي چه په دارالحرب کي عشر واجب نه دي که چيري استحباباً يې ورکړي نو بهتره ده. فقط

دحکومت په مځکه کي عشر: **سوال**: (۷۵ ثا) ګورنمنټ برطانيه په دي علاقه کي مځکی په مربعه جات تقسيموي نو پردغه مځکو باندي شرعي عشر واجب دي که نه؟ بعض وايي چه واجب دي بعض وايي نه دي واجب، نو فيصله کوونکي حکم تحرير کړئ؟

جواب: اصل دا دي چه دسر څخه دهندوستان په مځکو کي په عشر واجب کيدو تامل دي ځکه چه دشامي په باب الرکاز کي تصريح ده چه ددارالحرب مځکي نه عشري دي او نه خراجي او هندوستان دار الحرب دي لهذا په موجب دروايت دباب الرکاز دهندوستان په مځکو کي مطلقا عشر واجب کول نه دي په کار، او قاضي ثناء الله پاني پتي په ما لابد منه کي دي طرفته اشاره کړي ده اوچه کم علماء دهندوستان په مځکو عشر لازموي نو ددغه علماؤ په نزد په مذکوره مربعه جات کي به داول څخه عشر لازم وي. (۱) فقط دا حواله په وار وار تيره سوی ده. ظفير

په هندوستان کي دتيرو سوو کلونو عشر: **سوال**: (۷۲) السلام عليکم! زه ددوو ورځو څخه بي انتها په پريشاني کي يم الله تعالي دي آسانه کړي زه تر ننه پوري غافل پاته وم او په ذهن کي مي نه وه چه عشر او زکات زموږ په غله کي واجب الادا دی، په غلې راتلو باندي معمولاً خاص دالله تعالي دپاره به څه ورکول کيدل، دلسمي حصی داحتياط په وصول سره نه دي ورکړل سوي دتيرو سوو کلونو لپاره څه وکړم چه حساب اوکتاب نسته آيا معاف کيدي سي. مدرسی ته غله ليږل ګران دي قيمت ليږم، دنيم عشر څه معني ده؟ زه عشر ورکړم اوکه نيم عشر ادا کړم؟ داملاکو عموماً غله مقرر ده وصوليږي او لوی مقدار پاته کيږي چه دعوه کوي په نقد کي وصوليږي، ددغه نقد رقم سره زکات په نقد کي ادا کيږي غالبًا په دي کی به هيڅ نقصان نه وي.

جواب: السلام عليکم ورحمة الله وبرکاته! ستاسي ليك را ورسيدی! مخکی تر يوي زمانې پوري دا علم وو چه دهندوستان په عشري مځکو کي عشر واجب دي اوما (مفتي عزيز الرحمٰن رحمه الله) دبعضو تحريراتو موافق دا فيصله وکړه او ډير ځايونه مي فتوي ورکړه چه دمسلمانانو مملوکه مځکي عموماً عشري ګڼل په کار دي، او عشر ورکول په کار دي ځکه چه په عشري مځکو کي دعشر يا نيم عشر ايستل دآيت په حکم: واتوا حقه

---

(۱) حواله يې په وار وار تيره سويده. ظفير

يوم حصاده دزكات په شان فرض دي، بيا څه زمانه وروسته په ما لابد منه كي دقاضي ثناء الله صاحب رحمه الله پرتحقيق اوتصريح باندي نظر پريوتی چه موږ په خپل كتاب كي دزكات دمسائلو سره دعشر احكام په دي وجه ونه ليكل چه په دي ملكونو كي مځكی عشري نه دي، ددي سره دا منل هم ضروري دي چه دقاضي صاحب دا حكم كول چه دلته مځكي عشري نه دي ددغه زماني متفقه مسئله وه، ځكه چه قاضي صاحب دشاه ولي الله ﷫ خاص شاګرد او دشاه عبد العزيز رحمه الله وغيرهم هم زمانه دی، اودوی ټول په خپلو كي متفق دي په خپلوكي يې څه اختلاف نسته نوضروري ده چه دا مسئله ددغه زماني متفق عليه وه چه په هندوستان كي عشري مځكی نسته بيا ددي سره عمومًا دا معمول مي وليدی چه هيڅوك په خپلو بزرګانو كي دعشر اهتمام دزكات په شان نه كوي نو تعجب كيدی اوتردد هم كيدی اوګواكي دقاضي صاحب دتحقيق تائيد كيدی چي آيا هغوی داسي هم كړي دي چه ټولو بزرګانو دعشر اهتمام پريښوولی وو ضرور څه خبره ده چه دهغه په وجه عملاً دا پريښودل سوي دي، يو څوكلونه سوي دي چه مولانا محمد انور شاه صاحب يا بل يو صاحب دا وفرمايل چه دشامي په باب الركاز كي دا روايت دي چه ددارالحرب په مځكو كي عشر واجب نه دي ددي ځاي مځكی نه عشری دي اونه خراجي، دا روايت مي وليدی او ددي په ليدو سره دقاضي ثناء الله صاحب دتحرير وجه معلومه سوه چه همدا وجه ده چه دغه علماء دهندوستان مځكو ته عشري نه وايي، ځكه چه هندوستان دوی دار الحرب ګڼی دشامي په باب الركاز كي عبارت دا دي: واحترز به عن داره وارض الحرب الخ فان ارضها ليس ارض خراج او عشر الخ (۱) او عبارت دمالابد منه دا دي: وتفصيل نصاب اجناس سوائم وقدر واجب آن طول دارد ودراين ديار اين اموال بقدر وجوب زكات نمي باشد لهذا مسائل زكات ان مذكور نه كرده شد وهمچنين احكام عشر زمين عشريه كه در اين ديار نيست ومسائل عاشر كه بر طريق وشوارع باشد مذكور نه كرده باشد. (۲) ددي څخه وروسته يو دا اشكال باقي پاته دي چه ګنګوهي ﷫ دعشر دوجوب حكم كوي او تحريراً اوتقريراً يې دا ظاهر كړي دي غالبًا جناب ته به هم ياد وي يابه معمول ددوی درته معلوم وي، اوپه دي كي شك نسته، دآيتونو او احاديثو دنصوصو مقتضا هم دا معلوميږي ځكه چه امام صاحب په: جميع ما اخرجت الارض كي دعشر دوجوب حكم كوي اولكنه څنګه چه زكات په دارالحرب كي نه ساقطيږي بلكه صاحب دمال به يې په خپل طور سره ادا كوي نو دغه

---

(۱) وګوری: ردالمحتار باب الركاز ۲ ص۲۱. ط. س. ج۲ ص۳۲۰. ظفير

(۲) ما لا بدمنه.

رنګه عشر هم په هرځاي کي واجب کيدل په کاردي، او چونکه دعشر دوجوب دپاره دمځکي عشري کيدل ضروري دي او چه کله دا وويل سي چه ددارالحرب مځکی عشري نه دي نو دعشر دوجوب به هيڅ وجه نه وي او دګنګوهی قول اوفعل به پراحتياط مبني کړل سي. دغه رنګه زموږ مرشد مولانا رفيع الدين صاحب قدس سره هم خپل خاص خلقو ته دعشر ايستلو حکم ورکوی او پردي بناء باندي پلار صاحب چه څه دمحاصلو څخه دحصې په اندازه بنده ته ورکول چه هغه به لس دړی تقريباً وه نو بنده به په کورکي ويل چه ددړی دشپږمي حصي څخه يوه دړی دالله تعالي دپاره ورکړه. (۱)

۲: دعشر قيمت ورکول جائز دي.

۳: نيم عشر شلمه حصه ده لکه څنګه چه عشر لسمه حصه ده دغه رنګه نيم عشر شلمه حصه ده او فرق داوبو دقيمت وغيره په وجي سره کيږي يعنی په عشري مځکه کي اصل يعني عشر او لسمه حصه دپيداوار ورکول واجب دي ليکن که چيري مځکی ته په اوبو ورکولو کي مزدوري زياته مصرف سوه او مشقت وسو او خرڅ زيات سی بيا دعشر پرځای نيم عشر ورکول واجب پاته کيږي لکه څنګه چه ددرمختار دعبارت څخه معلوميږي: ويجب العشر فی مسقی سماء ای مطر وسيح الخ ويجب نصفه فی مسقی غرب ای دلو کبير ودالية ای دو لاب لکثرة المئونة وفی کتب الشافعية او سقاه بماء اشتراه وقواعدنا لا تاباه (۲) او علامه شامي ويلي دي چه وجه دا ده چه کله خرڅ زيات سو دعشر پرځاي نيم عشر يعني شلمه حصه به واجب پاته سي. فقط

<u>دعشر او خراج دنه جمع کيدو څه مطلب دی؟</u> سوال: (۷۷) فقهاؤ چه دا ويلي دي چه عشر او دمځکی خراج نه سي جمع کيدي دا ددوی وينا دمسلمانانو دحکومت دپاره مخصوصه ده چه دکمي مځکي خراج واخيستل سي دهغی عشر نه سي اخيستل کيدی اوکه دحکومت غير اسلامي دپاره به هم دا حکم وي په شامي جلد دويم کي تصريح ده چه حربي کافران کله زموږ پرملك باندي غالب سي نو دهغوی به هم دا حکم وي کم چه

---

(۱) درمختار باب زکوة الغنم، دا عبارت به غالباً دحضرت اقدس ګنګوهي رحمه الله پيش نظر وي چه په هغه کي صراحت دی که چيري سلطان جائز عشر يوسي او په خپل مصرف يې خرڅ نکړي نو دوباره به عشر ورکول ضروري وی: اخذ البغاة والسلاطين الجائرة زکوة الاموال الظاهرة کالسوائم والعشر والخراج لا اعادة على اربابها ان عرف فی محله الاتی فی باب المصرف وان لا يصرف فيه فعليهم اعادة غير الخراج (درمختار) قوله فعليهم ای ديانة کما فی بعض النسخ قال فی الهداية وافتوا بان يعيدوها دون الخراج (ردالمحتار ج۲ ص۳۲. ط. س. ج۲ ص۲۸۸) وجاز دفع القيمة فی زکاة وعشر وخراج وکفارة نذر وفطرة (الدرالمختار على هامش ردالمحتار باب زکوة الغنم ج۲ ص۲۹. ط. س. ج۲ ص۲۸۵). ظفير

(۲) وګوری: الدر المختار على هامش ردالمحتار باب العشر ج۲ ص۲۲ – ۲۸ ط. س. ج۲ ص۳۲۵ – ۳۲۸). ظ

دباغیانو دي یعني دظاهري مالونو زکات لکه څنګه چه دباغیانو په اخیستو سره دمالك څخه ساقطیږي نو دغسې دمتغلب حربي څخه ساقطیږي دعلامه دا رایه قابل قبول ده اوکه نه غرض دا چه دهندوستان په مځکه کي عشر واجب دي که خراج؟

جواب: علامه شامي [1] په باب الرکاز کي دا تصریح کړي ده چه ددار الحرب مځکي نه عشري دي او نه خراجي یعني هلته نه خراج واجب دي اونه عشر کافرانو چه کم خراج واخیستی ګواکي هغه شرعي خراج نه دي اونه واجب دي ددي څخه معلومیږي چه په هندوستان کي چه کله ورته دارالحرب وویل سي لکه څنګه چه دمحققینو رایه ده، عشر واجب نه دي احتیاطاً که یې چېري څوك ورکړي نو دا امر آخر دي او ددي تائید دقاضي ثناء الله صاحب پاني پتي په تصریح سره هم کیږي چه هغوی په ما لابد منه کي فرمایلي دي چه موږ دعشر مسائل ددي وجي څخه ونه لیکل چه په دي ښارونو کي عشر واجب نه دي [2] نوکه چیري دهندوستان مځکو ته عشري یا خراجي وویل سي نوبیا به دا حکم دلته هم جاري کیږي چه عشر او خراج به نه جمع کیږي او ددي تائید ددي څخه کیږي چه مولانا عبدالحي صاحب مرحوم په خپله فتاوي کي ددي تصریح کړي ده چه په هندوستان کي دکمي مځکي څخه خراج اخیستل کیږي پرهغې باندي عشر نسته او ددي قاعدي څخه یې استدلال کړي دي چه عشر او خراج نه سي جمع کیدي او دعلامه شامي دا تحقیق: ویظهر لی ان اهل الحرب لو غلبوا علی بلدة من بلادنا کذالك الخ [3] صحیح معلومیږي، عبارت دباب الرکاز دا دي: واحترز به عن داره وارض الحرب ثم رأیت عین ما قلته فی شرح الشیخ اسماعیل حیث قال ویحتمل ان یکون احترازاً عما وجد فی دار الحرب فان ارضها لیست ارض خراج او عشر الخ ص**۴۵** جلد ۲ شامی. [4] فقط

(۱) **خراجي او عشري مځکه**: **سوال**: (۷۸) عشري او خراجي کمه مځکه ده؟

(۲) **دعربو مځکه عشري ده که نه؟** **سوال**: (۷۹) دعربو مځکه ټوله عشري ده که بعضي عشري یا بعضي خراجي؟

(۳) **عشر او خراج دواړه نه سي جمع کیدي**: **سوال**: (۸۰) عشر او خراج دواړه جمع کیدي سي اوکه نه؟

---

(1) وګوری الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب العشر ج۲ ص۲۲ – ۲۸ ط. س. ج۲ ص۳۳۰ – ۳۲۵). ظ

(2) ویحتمل ان یکون احترازاً عما وجد فی دارالحرب فان ارضها لیست ارض خراج اوعشر (ردالمحتار باب الرکاز ج۲ ص۲۱. ط. س. ج۲ ص۳۲۰). ظفیر

(3) ط. س. ج۲ ص۳۲۰. ظفیر

(4) ردالمحتار باب الرکاز ج۲ ص۲۱. ط. س. ج۲ ص۳۲۰. ظفیر

(۴) **آیا دعشر دپاره خلیفة المسلمین کیدل ضروري دي؟ سوال**: (۸۱) دعشر دپاره خلیفه المسلمین شرط دي اوکه نه؟

(۵) **دعجمو دمځکي حکم: سوال**: (۸۲) دعجمو مځکه عشري ده که خراجي؟

(۲) **دحکومت دټیکس سره دعشر حکم: سوال**: (۸۳) چه کم خراج درعایا څخه وصول کیږي دهغه سره عشر شرعي جمع کیږي اوکه نه؟

(۷) **دهندو راجه پررعایا باندې عشر او خراج دواړه دي که یو؟ سوال**: (۸۴) دهندو بادشاه پررعایا باندي عشر او خراج دواړه لازم دي که یو لکه کشمیر نیپال وغیره؟

(۸) **دمسلمان ریاستونو دمځکو حکم: سوال**: (۸۵) دمسلمان ریاستونو حکم څه دي؟

(۹) **ددار الحرب تعریف او هندوستان څه شي دي؟ سوال**: (۸۲) ددارالحرب تعریف څه شي دي او هندوستان دارالحرب دي که دار الاسلام؟

جواب: اصل خو دا دي چه دکمي مځکی اوسیدونکي مسلمانان سي او هغه مځکه چه دمفتوح کیدو څخه وروسته په غانمینو کي تقسیم سي عشري ده لیکن هغه مځکه چه مجهول الحال ده یعنی دکمو متعلق چي دا معلومه نه ده چه مځکي په دي باندي خراج وو که عشر او دغه وخت هغه دمسلمانانو په قبضه کي ده نو پردي به هم عشر لازم وي ځکه چه دمسلمان په حق کي مناسب تر هم عشر دي اوتیر سوي حالت به هم پر موجوده حالت باندي قیاس کیږي. په هدایه کي دي: وکل ارض اسلم اهلها او فتحت عنوة واقسمت بین المسلمین الغانمین فهی ارض عشر لان الحاجة الی ابتداء التوظیف علی المسلم والعشر الیق به لما فیه من معنی العبادة الخ [۱] وفی الشامی نقل فی غایة البیان ان الامام السرخسی ذکر فی کتاب الجامع ان علیه العشر لکل حال لانه احق بالعشر من الخراج وهو الاظهر الخ شامی جلد ۲ [۲].

۲. دعربو تمامي مځکي عشري دي: ارض العرب کلها ارض عشر عالمګیریه وهدایه [۳] وغیره بیا ددي فقهاؤ تحدید فرمایلی دي.

۳: داحنافو په نزد عشر او خراج دواړه نه سي جمع کیدي: ولا عشر فی الخارج من ارض الخراج وقال الشافعی یجمع بینهما الخ ولنا قوله علیه السلام لا یجتمع عشر وخراج فی ارض مسلم ولان احدا من ائمة العدل والجور لم یجمع بینهما وکفی باجماعهم حجة الخ هدایه ربع ثانی. [۴]

---

(۱) هدایه باب العشر والخراج ج۳ ص۵۷۰. ظفیر

(۲) ردالمحتار باب العشر تحت قوله لرضاء ج۲ ص ۷۱. ط. س. ج۲ ص۳۳۰. ظفیر

(۳) هدایه باب العشر والخراج ج۳ ص۵۷۰. ظفیر　　(۴) هدایه باب العشر والخراج ج۲ ص۵۷۳. ظفیر

۴: دخليفه دنيستوالي په صورت کي دي په خپله عشر ادا کړي ځکه چه عشر دمځکی زکات دي: قال الله تعالى واتوا حقه يوم حصاده الايه. (۱)
۵: په دي کي به تفصيل کيږي کليةً هيڅ حکم نه سي لګول کيدي.
۶: په شامي کي دي چه ددارالحرب په مځکو کي عشر نسته او خراج هم نسته هندوستان چونکه دارالحرب دي لهذا دلته به هم دا حکم وي: ولهذا قال القهستانى بعد قوله فى ارض خراج او عشر الاحصر فى ارضنا الخ واحترز به عن داره الخ وارض الحرب ثم قال ويحتمل ان يكون احترازاً عما وجد فى دارالحرب فان ارضها ليست ارض خراج او عشر الخ شامى (۲) ج۳ بيا هم که چيري څوك يې ادا کړي نو اولي دی.
۷: دحکومت دطرف څخه چه څه مقرر وي هغه خو په مجبوری ادا کيږي کنه نو دا هم په حکم کي ددار الحرب دي او خراج په دي کی خو هيڅ هم نسته. (۳)
۹: ددار الحرب مختلف تعريفونه سوي دي ددي وجي دهندوستان متعلق اختلاف دي بيا هم محققه او صحيح دا ده چه دا دارالحرب دي ځکه چه پرکومو ښارونو باندي کفار مسلط وي هغه په حقيقت کي دارالحرب دي. (۴) فقط

دعشر دمسئلې مختلف صورتونه: **سوال**: (۸۷) په عشر اوڅلويښتمه کي فرق سته اوکه نه؟
۲: کروندګري کول جائز دي اوکه نه؟ کروندګري چه کم مالګزار سرکار ته ورکول کيږي په هغه کي عشر يا څلويښتمه ورکول واجب دي اوکه نه دي؟
۳: زيد دري قسمه مځکه کښت کوي اول دا چه هغه ديو رئيس امير څخه څه مځکه دکروندي دپاره اخيستي ده چه دهغې دپيداوار نيمه نيمه حصه په خپلو کي تقسيميږي، مال ګذاري مالك ورکوي، دويم دا چه زيد په خپله مملوکه مځکه کي کښت کوي دهغه مال ګزاري دزيد سره متعلقه ده، دريم دا چه دزيد سره دمعافی مځکه ده په هغی کي کرونده کوي او مالګزاري ورکول نسته په دې درې واړو صورتونو کي پر زيد باندي عشر واجب دي اوکه نه؟

(۱) سورة الانعام رکوع ۱۷. ظفير
(۲) ردالمحتار باب الرکاز ج۲ ص۲۱. ط. س. ج۲ ص۳۲۸. ظفير
(۳) فان ارضها (اى ارض دارالحرب) ليست ارض خراج وعشر (ردالمحتار باب الرکاز ج۲ ص۲۱، ط. س. ج۲ ص۳۲۵). ظفير
(۴) وقالا بشرط واحد لا غير وهو اظهار حکم الکفر وهو القياس (ردالمحتار باب استئمان الکافر ج۳ ص۳۴۹. ط. س. ج۲ ص۱۷۲) پوره عبارت داسی دی: لا تصير دار الاسلام دارحرب الا بامور ثلاثة باجراء احکام اصول الشرك وباتصالها بدار الحرب وبان لا يبقى فيها مسلم او ذمى آمنا بالامان الاول (درمختار. ط. س. ج۲ ص۱۷۵). ظفير

۵: عشر ځلوېښتمه حصه ورکول فرض دي يا واجب يا مستحب؟
۶: دعشر ځلوېښتمه په ټول کال کي يو ځل ورکول په کاردي که په هر فصل باندي؟
۷: دعشر دځلوېښتمی مصارف ځوك دي؟
جواب: دنمبر ۱ څخه تر نمبر ۲ پوري کرونده جائز ده لکه څنګه چه دفقهي په کتابونو کي ددي تفصيل موجود دي او چه کم صورتونه دکروندګری په سوال کي ليکل سوي دي هغه ټول درست دي (۱) اوعشر لسمه حصه دمځکی دپيداوار ده او ځلوېښتمه حصه په زکات کي ورکول کيږي ددي نوم زکات دي دروپو وغيره څخه دټول کال څخه وروسته چه کمه ځلوېښتمه ورکول کيږي. او دشامي دروايت څخه معلوميږي چه دهندوستان پرمځکو باندي عشر نسته (۲) ليکن چه کم ځاي عشر لازميږي هلته پريوه فصل باندي دمځکی دپيداوار لسمه حصه ده مثلاً دلسو منو څخه يو من ورکول لازميږي (۳) او زکات دروپو وغيره په ټول کال کي يوځل ورکول فرض دي (۴) اوعشر چه کم ځاي لازم دي هلته پريوه فصل باندي چه کمه آمدني دمځکي وي دهغه څخه عشر يعني لسمه حصه دپيداوار ورکول لازم دي او دعشر او زکات مصارف فقراء او مساکين وغيره دي.

دريم باب: جزيه

په اسلامي حکومت کي اوسيدونکي غير مسلم او دهغه سره اړوند احکام اومسائل

<u>دلفظ دجزيه تحقيق وفرماياست</u>! سوال: (۱) دلفظ جزيه څه اصليت دي، سائل په دي لفظ باندي دادبي او تاريخي او مذهبي طرف څخه ځان پوه کول غواړي او دسهولت دپاره پر لاندي بحثونو باندي تقسيم دي: (۱) په اصل کي جزيه دکمي ژبي لفظ وو، دعربي ژبي لفظ وو که دفارسي څخه معرب سوي دی؟
(۲) داسلام څخه مخکي دا رائج وه که نه؟ داسلام څخه مخکي دا ټيکس په عربو يا فارس کي رائج وو اوکه نه؟
(۳) ددي اصولو دقيام منشاء څه ده؟ ددي اصولو دقائمولوڅخه داسلام څه مقصدؤ؟ آيا

---

(۱) وكذا صحت لو كان الارض والبذر لزيد والبقر والعمل للآخر او الارض له والباقي للآخر او العمل له والباقى للآخر فهذه الثلاثة جائز (الدرالمختار على هامش ردالمحتار باب المزارعة ج۵ ص۲۴۲. ط. س. ج۲ ص۲۷۸).
(۲) دا حواله په وار وار تيره سوی ده. ظفير
(۳) ويجب العشر الخ فى مسقى سماء وسيح الخ ويجب نصفه فى مسقى غرب ودالية لكثرة المؤنة الخ او سقاه بماء اشتراه الخ (الدرالمختار على هامش ردالمحتار باب العشر ج۲ ص۲۲ - ۲۹. ط. س. ج۲ ص۳۲۸ - ۳۲۲). ظفير
(۴) ولا بد من الحول لانه لابد من مدة يتحقق فيها النماء وقدرها الشرع بالحول لقوله عليه السلام لا زكوة فى مال حتى يحول عليه الحول الخ (هدايه كتاب الزكوة ج۲ ص۱۲۵). ظفير

دا پر ذميانو باندي دظلم او زياتي كولو يوه آله ده؟
(۴) دخلفاء راشدينو او دمسلمانانو سلاطينو په عهد كي څه دستور چليدى؟ دخلفاء راشدينو او دوخت دبادشاهانو په زمانه كي ددوى څه دستور العمل وو او دهر سړي څخه څومره اخيستل كيده؟
(۵) په عهد نبوى ﷺ كي جزيه دذميانو څخه اخيستل كيده اوكه نه اوددي مقصد څه دي؟ دجزيې مال دنبي ﷺ په زمانه كي دذميانو څخه اخيستل كيدى اوكه نه؟ په فقه كي ددي دپاره يو خاص مقدار مقرر دي اوكه بادشاهانو ته اجازت دي چه هغوى څنګه دملك حالت ويني او مناسب يې وګڼي وصول دي كړي؟
جواب: دلغت دكتابونو په كتلو سره موږ ته په محققه طريقه سره دا معلومه سويده چه دا دعربي لفظ دي دجزاء څخه ماخوذ دي: وفى الكشاف سميت جزية لانها طائفة مما على اهل الذمة ان يجزوه اى يقضوه او لانهم يجزون بها من منَّ عليهم بالاعفاء عن القتل ص**۵۵۰** كشاف جلد اول مطبوعه مصر، وفى تاج العروس: قال الراغب الجزية سميت بذالك للاجتزاء بها عن حقن دمهم قال ابن الاثير الجزية هى فعلية من الجزاء كانها جزت عن قتله ومنه قوله تعالى حتى يعطوا الجزية الاية، وجمعه جزى كلحية ولحى كما فى الصحاح. تاج العروس، وروسته معلومه سوه چه دعلامه زمخشري او شارح قاموس مختار دا دي چه لفظ دجزيه عربي دى، دجزا څخه ماخوذ دى اوچا چه دا ويلي دي چه دا لفظ فارسي الاصل دي په اصل كي ګزيت وو بيا معرَّب كړل سو نو هغه خلاف تحقيق دي، دلغت په كتابونو كي پردي باندي هيڅ نقل موجود نه دي [۱] داسلام څخه مخكي هم جزيه په فارس كي رائج وه مشهور مؤرخ حافظ ابوجعفر طبري دكسرٰي په ذكر كي ليكي: والزموا الناس الجزية ما خلا اهل البيوتات والعظماء والمقاتلة والهوابذة والكتاب ومن كان فى خدمة الملك وصيروا باعلى طبقات اثنى عشر درهمًا وثمانية وستة واربعة بقدر اكثار الرجل واقلاله ولم يلزموا الجزية من كان اتى له من السنين دون العشرين وفوق الخمسين، طبري جلد ثانى ص**۱۲۳** مطبوعه مصر.
(۳) په دې كي هيڅ شك نسته چه جزيه دسياست سره تعلق لري، نو دغه رنګه اهل فارس ددي اول بنياد كښيښووى او دشريعت اسلامي هيڅكله دا شان نه دى چه هغه په سياسي او ملكي امورو كي دخيل وي دشريعت مقصد پرچا باندي حكمراني نه ده دشريعت غرض دادى چه هغه دهغه امورو تعليم وركړي چه دتكميل نفس او دتطهير

---
(۱) سورة البقرة، پاره دوم : ركوع اول. ظفير

اخلاق اسباب وي چه دهغه دپیدائش رازي دی په حقیقت کي، لیکن شریعت دانساني، سیاسي او ملکي امورو څخه بالکل برطرف هم نه دي بلکه هغه امور هم چه په ظاهره دمملکت اوسیاست سره تعلق لري، لیکن په حقیقت کي دمقصدشرعي ددې څخه تکمیل به شریعت حسابول کیږي، چه کله مو دا خبره په ذهن کي راغله نو اوس واوره چه دشریعت مقصد دادی چه اهل عالم دشرك او بت پرستۍ څخه منع سي او يو الله وپیژني او دکم غرض دپاره چي پیداکړل سوي دي مثلاً دا چه دخپل معبود حقیقي عبادت وکړي ددي غرض په تکمیل کي کوشش کوونکي وي کله چه نبي ﷺ مبعوث سو ده ﷺ چي کم ځاي مشرکانو ته داسلام دعوت ورکړی نو اهل کتاب يې هم (چه دمخکي څخه مؤحد ورته ویل کیده لیکن دعناد او دنفس دخواهش په وجه چه کم ته توحید ویل په کار دي دهغه په دوی کي نوم او نښان هم نه وو) دتوحید حقیقي او دایمان دتکمیل طرفته راوبلل مگر چونکه ددوی زړونه دعناد او دحق دمخالفت څخه ډك وه با وجود ددي چه درسول ﷺ حقانیت پردوی باندي دروښانه ورځي په شان ښکاره وو لکه څنگه چه انسان دخپل اولاد په شناخت کي دوکه نه خوري دغه رنگه دده ﷺ په پیژندلو کي هم ددوی څخه هیڅ غلطي ونه سوه کما قال الله تعالی: یعرفونه کما یعرفونه ابناءهم (١) چه کله په قصد سره دعناد او مخالفت او ددنیا دحرص په وجه دده ﷺ دنبوت څخه منکر سول نو شریعت اسلامي ددوی په هوښ کي دراوستلو دپاره او ددوی دنفس داصلاح دپاره یوه عمده طریقه جاري کړه، دوی ته دغیرت ورکولو اسباب يې پیدا کړل، دغلامۍ دذلت څخه يې وبیرول چه دغلامۍ غیرت وخوري او هوښیار سي او دنفس داصلاح فکر وکړي ددي وجي به ددوی تکمیل وسي نو جزیه چه دهغی قبلول دوی خپله هم ذلت گڼی او کسري او نوشیروان دذلیل کولو دپاره دجزیې نفاذ کړي وو، دا يې پر دوی باندي مقرره کړه چه تریوې زمانی پوري ددوی تعصب ختم سي. او دجزیې دقید څخه آزادي وغواړي اوپه دائره داسلام کي داخل سي. ددي مقصد په تائیدکي دخالد بن ولیدلیکنه درج کوم:

بسم الله الرحمن الرحیم من خالد بن ولید الی رستم ومهران فی ملاء فارس سلام علی من اتبع الهدی اما بعد: فانا ندعوکم الی الاسلام فان ابیتم فاعطوا الجزیة عن ید وانتم صاغرون فان ابیتم فان معی قوم یحبون القتل فی سبیل الله کما یحب الفارس الخمر، والسلام علی من اتبع الهدی. رواه فی شرح السنه للبغوی. (٢)

---

(١) مشکوة باب الکتاب الی الکفار ص۳۴۲. ظفیر

(٢) کتاب الخراج لابی یوسف ص ۸۱. ظفیر

نومعلومه سوه چه په جزیه قائمولو سره دشریعت غرض ددوی دنفس اصلاح، دایمان تکمیل داخلاقو پاکول وو، یا داسي ووایاست چه په عالم کي امن قائمول يې مقصود وو دیته هیڅوك ظلم نه وایي دا عین امن پسندي او انصاف دي، دکتاب الخراج دقاضي ابو یوسف څخه معلوميږي چه ابو عبیده بن الجراح امین امت ﷺ وصول سوي خراج او جزیه بیا واپس کړه حیث قال: فكتب ابوعبيده الى كل وال ممن خلفه فی المدن التی صالح اهلها یامرهم ان یردوا علیهم ما جبی منهم من الجزیة، حبیب بن مسلمه راوغوښتی او ورته وې ویل: چه زما زړه غواړي چه دفلاني فلاني ښارونو داوسیدونکو څخه چي څه دصلحی په طریقه موږ ددوی څخه وصول کړي دي هغه ورواپس کړم، انتهي، اوس آیا ددي څخه وروسته یو صاحبِ ذوق سلیم دا ویلی سي چه جزیه پرذمیانو باندي قائمول دظلم اوستم کولو یوه آله وه هیڅکله نه! په دي سره ددوی دنفوسو اصلاح مقصود وه نو وصول سوي جزیه واپس کول هم په دي غرض سره وه چه دوی دمسلمانانو داخلاقو څخه متاثره سي او په دآئره داسلام کي داخل سي او پوه سي چه داسلام غرض دمال او دولت حاصلول نه دي.

(۴ – ۵) دنبي ﷺ او خلفاء راشدینو په زمانه کښي دذمیانو څخه جزیه اخیستل سوي وه او جزیه په دوو طریقو سره وه یو هغه دصلحی په طریقه مقرره سوي وه ددي جزیې تعین پرصلح باندي دائر دي خاص مقدار یې مقرر نه دي دوخت بادشاه ته اختیار دي چه څومره غواړي مقرر کولي یې سي برابره خبره ده هغه خلق چه پرچا باندي جزیه مقرر کړل سوي ده دشریعت په قرارداد باندي راضي وي اوکه نه وي هغه مقدار دا دي: داعلي درجې پرغني باندي دټول کال جزیه ۴۸ درهمه، دمیاشتي۴ درهمه او دمتوسطي درجې پرغني باندي په ټول کال کي ۲۴ درهمه دمیاشتي ۲ درهمه او دمعمولي درجی پرسړي باندي چه معمولي کسب او تجارت کوي خلق دي مالدار نه ګڼي دمیاشتي یو درهم، سالانه دولس درهمه: کما فی الفتح قال ابن الهمام الجزیة عندی ضربین جزیةً توضع بالتراضی والصلح علیها فتقدر بحسب ما علیه الاتفاق فلا یزاد علیه تحرزاً عن العذر واصله صالح رسول الله ﷺ اهل نجران وهم قوم من نصاری بقرب الیمن علی الفی حلة فی العام علی ما فی السنن لابی داؤد عن ابن عباس رضی الله تعالی عنه قال صالح رسول الله ﷺ اهل نجران علی الفی حلة النصف فی صفر والنصف فی رجب والضرب الثانی جزیة یبتدئ الامام بتوظیفها اذا غلب علی الکفار ففتح بلادهم واقر علی املاکهم فهذه مقدرة بقدر معلوم شاؤا او ابوا رضوا اولم یرضوا فیضع علی الغنی فی سنة ثمانیة واربعین فی کل شهر اربعة دراهم وعلی المتوسط اربعة وعشرین درهما فی

کل شهر درهمين وعلى الفقير المعتمل اثنى عشر درهما فى كل شهر درهمًا واحداً، (1)
او دجزيې اول قسم لکه څنګه چه دخلفاء راشدينو څخه منقول دي نو دويم قسم يې هم نقل دي: كما فى الهداية بعد ذكر القسم الثانى ومذهبنا منقول عن عمر وعثمان وعلى رضى الله عنهم اجمعين ولم ينكر عليهم احد من المهاجرين والانصار، انتهٰى. (2) فقط

څلورم باب: احکام مرتد

دکفری کلماتو او ارتداد سره متعلق احکام او مسائل

دمرزا غلام احمد دارتداد فتوى اودده تعريف کوونکي فاسق دي: سوال: (۱) خواجه کمال الدين لاهوري دمرزا غلام احمد قادياني دفصاحت او بلاغت تعريف کوي يا دده استقبال کول يا دي خپل مهمان جوړول څنګه دي داسي سړی مرتد دي اوکه نه؟

جواب: مرتد خونه دي ليکن فاسق او عاصي ضرور دي چه دبي دينه تعظيم کوي باقي ثوك چه دقادياني عقائدو معتقد دي دهغه پر ارتداد باندي دعلماو فتوي سوي ده. (3)

دا دعوى چه په ما کي دنبي کريم ﷺ روح حلول کړی دی کفر دی: سوال: (۲) يوسړي دعوي کوي چه درسول الله ﷺ روح مبارك او دامام مهدي عليه السلام روح زما په بدن کي حلول کړي دي وغيره ددي عقيدي لرلو په نسبت څه حکم دي؟

جواب: مذکوره عقائد دکفر عقائد دي مذکور مدعي ګمراه او بي دين دي (4) دده سره مريد کيدل او دده اتباع کول درسته نه ده دغه سړی مصداق دضلوا فاضلوا (5) دی، دده دمجلس څخه ځان وژغوری، ولنعم ما قال في المثنوي المعنوي:

ای بسا ابلیس آدم روئے ہست ــــ پس بہر دستے نباید داد دست

دالله اورسول ﷺ منکر مرتد دي: سوال: (۳) يو سړي دا الفاظ وويل چه زه الله او رسول نه منم والعياذ بالله پر داسي سړي باندي دارتد اد حکم کيږي او دده نکاح به باطله وي اوکه نه؟

---

(1) فتح القدير باب الجزيه ج ۴ ص ۳۲۸. ظفير
(2) هدايه باب الجزية ج۲ ص۵۷۱. ظفير
(3) ودعوى النبوة بعد نبينا ﷺ كفر بالاجماع (شرح فقه اكبر ص۲۰۲) قد يكون فى هولاء من يستحق القتل كمن يدعى النبوة او يطلب تغير شيء من الشريعة ونحو ذالك (ايضا ص۱۸۴). ظفير
(4) وكذا الكافر بسبب الزندقة لاتوبة له الخ والداعى الى الالحاد والاباحى كالزنديق وفى الفتح وفى المنافق الذى يبطن الكفر ويظهر الاسلام كالزنديق الذى لا يتدين بدين (درمختار) الا الاباحة والغالية والشيعة من الروافض والقرامطة والزنادقة والفلاسفة لاتقبل توبتهم بحال من الاحوال (ردالمحتار باب المرتد ج۳ ص۴۰۹ – ۴۱۰. ط. س. ج۴ ص۲۴۱). ظفير
(5) مشكوة كتاب العلم ص۳۳. ظفير

جواب: پرداسي سړي باندي دارتداد حکم کيږي او دده نکاح باطله سوه هکذا في کتب الفقه. (۱)

زنانه مرتده سوه وروسته يې بيا دويم ايمان راوړی دويمه نکاح يې وکړه څه حکم دي؟ سوال: (۴) نن صبا زنانو دنکاح دفسخ کولو دا طريقه ساتلي ده چه زنانه ديو څو ورځو دپاره عيسايي سي بيا يوبل ځاي اسلام راوړي او چيري چه وغواړي نکاح وکړي غرض داچي په حقيقت کي داسلام پريښودل نه بلکه دخاوند پريښودل مقصود وي داسي زنانه ته به مرتده ويل کيدي سي او که نه او نکاح فسخ کيږي اوکه نه؟ اوکه چيري مرتده داسلام طرفته واپس سي نو آيا مخکني خاوند ته به ورکول کيږي اوکه به ورته اختيار ورکول کيږي چه چيري يې خوښه وي نکاح دي وکړي؟

جواب: داحنافو دمذهب ظاهر دا دي چه دښځي او خاوند څخه ديوه مرتد کيدل دنکاح دفسخ موجب دي: وارتداد احدهما فسخ عاجل الخ درمختار (۲) ليکن فقهاؤ دا هم تصريح فرمايلي ده چه کمه ښځه ددې وجي مرتده سي معاذ الله چه داول خاوند دنکاح څخه ووزي او ددويم سړي سره نکاح وکړي ددې دپاره دا حکم دي چه دا به مجبورول کيږي پر اسلام باندي او داول خاوند سره پرتجديد نکاح باندي (۳) وتجبر علی الاسلام وعلی تجديد النکاح الخ درمختار (۴) او دبلخ دمشائخو دا فتوي ده چه دزنانه په مرتد کيدو سره نکاح نه فسخ کيږي او هغه به داسلام څخه وروسته داول خاوند په نکاح کي پاته کيږي: وافتی مشائخ بلخ بعدم الفرقة بردتها زجرًا وتيسرًا الخ قال فی النهر والافتاء بهذا اولی من الافتاء بما فی النوادر (۵) وفی الشامی وقد کان بعض مشائخنا من علماء العجم إبتلی بامرأة تقع فيما يوجب الکفر کثيرًا ثم تنکر وعن التجديد تابی ومن القواعد المشقة تجلب التيسير والله الميسر لکل عسير الخ (۶).

په ارتدادسره نکاح فسخ کيږي: **سوال**: (۵) هنده مؤمنه ده او ددې خاوند زيد تر دې اندازې پوري په فسق اوفجور کي مبتلا دي چه خپله بي بي هنده لمونځ او روژو ته هم نه

---

(۱) ذکر فی المسايرة ان ما ينفی الاستسلام او يوجب التکذيب فهو کفر (ردالمحتار باب المرتد ج۳ ص۳۹۲. ط. س. ج۴ ص۲۲۳) والکفر شرعا تکذيبه ﷺ فی شیء مما جاء به من الدين ضرورة (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب المرتد ج۲ ص۹۲. ط. س. ج۴ ص۲۲۳). ظفير

(۲) الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب نکاح الکافر ج۲ ص۵۳۹. ط. س. ج۳ ص۱۹۳. ظفير

(۳) ولو ارتدت لمجيئ الفرقة منها الخ تجبر (ايضا ج۲ ص۵۳۹ – ۵۴۰ ط. س. ج۳ ص۱۹۴). ظفير

(۴) ايضا ج۲ ص۵۴۰. ط. س. ج۳ ص۱۹۴. ظفير

(۵) ايضا ج۲ ص۲۳۹ – ۲۴۰. ط. س.. ج۳ ص۱۹۴. ظفير

(۶) ردالمحتار للشامی باب نکاح الکافر ج۲ ص۵۴۰. ط. س. ج۳ ص۱۹۴. ظفير

پرېږدي چه کم وخت هغه لمونځ کوي نو وهل ټکول شروع کړي نيت ورمات کړي او وايي چه الله او رسول څه کولي سي داټولي خبری ملايانو دځانه جوړی کړي دي اوچه هغه کله قرآن لوستل غواړي نو وايي چه قرآن مجيد څه شي دي دا خو (نعوذ بالله من ذالك) محمد ﷺ دروغ خبري په عربي کي جمع کړي دنيا يې دوکه کړيده، يو ځل يې قرآن شريف په ټوکر ووهی ليري يې وغورزوی او دالله تعالي او رسول الله ﷺ په شان کي يې ډيري بيهوده خبري وکړي والعياذ بالله، داسي سړي مسلمان دي که کافر او نکاح دده فسخ سوه اوکه نه؟

جواب: دغه سړي مرتد او کافر سو او نکاح (۱) دده فسخ سوه: لان الارتداد موجب الفسخ عاجلا كذا في كتب الفقه (۲).

که چيري عقيده يې داسلام وي اوکارونه ئي دکفر نوڅه حکم دي؟ سوال: (۲) اول يوه چمياری (دموچي ښځه) مسلمانه سوه او خپله نکاح يې داهل اسلام سره وکړه شپږ مياشتي ددغه سړي په کور کي پاته سوه بيا دغه چمياری هندو جبراً ونيوله او بويې تله ددي خاوند په بله يوه مقدمه کي قيد سوي وو، ترپنځو مياشتو پوري چمياری دهندوانو په کورکي اوسيده حلال او حرام يې مباح وګڼل اوس بيا دوباره مسلمانه سوه آيا مخکنۍ نکاح ددي فاسده سوه که نه؟ ددغه چمياری نکاح دبل سړي سره جائز ده اوکه نه؟ آيا دمخکي خاوند څخه طلاق غوښتل په کاردي؟

جواب: چه کم امور په سوال کي درج دي دهغه څخه ددغی چمياری مرتد کيدل نه معلوميږي که چيري په حقيقت کي هغه په خپل اسلام باندي قائمه پاته وي او عقيده يې داسلام وي اګر چه په اعمالو کي دکافرانو سره شريکه پاته سوه نو دا مرتده نه سوه او ددي مخکنۍ نکاح قائمه ده بغير دده دطلاقه دده دنکاح څخه نه خارجيږي او دبل سړي سره يې نکاح نه جائز کيږي اوکه چيري دي خپله عقيده بدله کړي وه او داسلام څخه منحرفه سوي وه او داسلام څخه يې انکار کړي وو نو نکاح سابقه ددي فسخ سوه اوس دوباره داسلام راوړلو څخه وروسته دبل سړي سره نکاح ددې صحيح ده. (۳)

---

(۱) من هزل بكفر ارتد وان لم يعتقده للاستخفاف فهو لكفر العناد (درمختار) والاستخفاف به وبالمصحف والكعبة وكذا مخالفة او انكار ما اجمع عليه بعد العلم به لان ذلك دليل على ان التصديق مفقود (ردالمحتار باب المرتد ج۳ ص ۳۹۲. ط. س. ج۴ ص۲۲۲). ظفير

(۲) ارتداد احدهما اى الزوجين فسخ عاجلا بلا قضاء (الدرالمختار على هامش ردالمحتار باب نكاح الكافر ج۳ ص۵۳۱. ط. س. ج۳ ص۱۹۳). ظفير

(۳) ايضا. ظفير

دنبي ﷺ توهين کول ارتداد دي: **سوال**: (۷) ديو صوفي پرکور باندي وعظ وسو چه په هغه کي دنبي عليه السلام په شان مبارك کي دتوهين الفاظ استعمال کړل سول او داهل مجلس څخه يو ولاړ سو او وې ويل چه څه دوی فرمايلي دي ډير صحيح او درست دي او بيا دغه درې واړو کسانو په يوه عامه جلسه کي توبه وکړه آيا ددوی توبه قابل يقين ده اوکه نه او نکاح پاته سوه اوکه نه؟

جواب: که چيري يوه داسي کلمه يې دزبان څخه وايسته چه شرعًا دتوهين کلمه ده او دارتداد حکم پردي کيدي سو نو په داسي (۱) حالت کي نکاح دده باقي پاته نه سوه او توبه او اسلام راوړل دده قبول دي دتوبي څخه وروسته تجديد دنکاح کول په کار دي (۲) او پوره خبره چه کله معلومه سي چه آيا په دي کي تأويل ممکن دي که نه

قرآن اوحديث نه منم دا جمله دارتداد ده: **سوال**: (۸) دهنده نابالغی نکاح ددي پلار دزيد سره په غير کفو کي کړي وه دبلوغ څخه وروسته هنده دخاوند کورته دتګ څخه انکار کوي په هره طريقه دا ټولو پوهه کړه چه شرعًا ستا نکاح سوي ده اوس ستا هلته تلل ضروري دي چه په دې باندي هندي بې ساخته دا جواب ورکړی چه موږ قرآن او حديث نه منو که مسلمانه پاته سم اوکه نه! اوس دهندي نکاح دزيد سره قائمه ده اوکه نه؟

جواب: دا کلمه دکفر او ارتداد ده (۳) او په ارتداد سره نکاح فسخ کيږي لکه څنګه چه په درمختارکي دي: وارتداد احدهما فسخ عاجل الخ (۴) نو دهندي نکاح دزيد سره قائمه پاته نه سوه بلکه فسخ سوه. فقط

عيسي عليه السلام ته يې ابن الله وويل بيا يې وروسته انکار وکړی څه حکم دي؟ **سوال**: (۹) زيد او عمر شهادت ورکړی چه خالد دنن څخه تقريبًا شپږ مياشتي مخکی پرفلاني مقام باندي عيسي عليه السلام ته ابن الله ويلي وه ددغه شهادت څخه خالد انکار وکی او شاهدينو هم حلفيه شهادت ورکړي وو، آيا دخالد انکار دتوبي قائم مقام دي اوکه نه او دده بي بي بائنه سوه اوکه نه؟ شاهدينوچونکه بي عذره په شهادت ورکولوکي تاخيروکی

---

(۱) ويجب الحاق الاستهزاء والاستخفاف به وتعلق حقه الخ وحينئذ فيعم حضرة الرسالة فينبغی القول بكفره (درمختار) اجمع عوام اهل العلم على ان من سب النبی ﷺ يقتل (ردالمحتار باب المرتد ج۳ ص۱۴۰۰. ط. س. ج۴ ص۲۳۲). ظفير

(۲) ما يكون كفراً اتفاقا يبطل العمل والنكاح واولاده اولاد الزناء وما فيه خلاف يؤمر بالاستغفار والتوبة وتجديد النكاح (الدر المختار على هامش ردالمحتار باب المرتد ج۲ ص۴۱۴، ط. س. ج۴ ص۲۴۶). ظفير

(۳) من هزل بلفظ كفر ارتد وان لم يعتقده للاستخفاف (درمختار) ای تكلم به باختياره غير قاصد معناه (ردالمحتار باب المرتد ج۳ ص۳۹۲. ط. س. ج۴ ص۲۲۲). ظفير

(۴) الدرالمختار على هامش ردالمحتار باب نكاح الكافر ج۲ ص۵۳۹. ط. س. ج۳ ص۱۹۳. ظفير

نو ددوی شهادت به معتبر وي او که نه؟

جواب: په درمختارکي دي: شهدوا علی مسلم بالردة وهو منکر لا یعترض له لا لتکذیب الشهود العدول بل لان انکاره توبة ورجوع یعنی فیمتنع القتل فقط، وتثبت بقیة احکام المرتد کحبط عمل وبطلان وقف وبینونة زوجة الخ (۱) ددې شخه معلومه سوه چه انکار دده توبه ده او رجوع ده، ده ته دي هیڅ تعرض ونه کړل سي لیکن بي بي دده به بائنه سي لهذا تجدید دنکاح دي وکړي او دشهادت تاخیر که حسبةً بي شکه بي عذره وي نو موجب درد دشهادت دي لیکن دشرعي قاضي دعدم موجودګي له امله دا خپله دشهادت دتاخیر دپاره کافي عذر دي. فقط

داحد الزوجین په ارتداد سره نکاح فسخ کیږي: **سوال**: (۱۰) یو مسلمان سړی دیو هندو حجام سره مرید سو او لمونځ روژه ټول دشریعت احکام یې پریښودل دهندوانو په شان په تندي کي یې سندور، چندن او نور داسي وکړل، درختو ته سجدي کوي دده بي بي دده په نکاح کي ده او که دویمه نکاح ددې جائز ده؟

جواب: مرتد کیدل داحد الزوجین دنکاح دفسخ کیدو سبب دي کما فی الدر المختار وارتداد احدهما فسخ عاجل الخ (۲) او مذکوره امور چه دهغوی ارتکاب خاوند وکی لکه دغیر الله پرستش وغیره دا امور موجب دارتداد دي قال الله تعالی: وما امروا الا لیعبدو الله مخلصین له الدین، الایه (۳) وقال الله تعالی: لا تسجدوا للشمس ولا للقمر واسجدوا لله الذی خلقهن ان کنتم ایاه تعبدون الایه (۴) فی ردالمحتار ج۳ ص۲۸۲ وبالجملة فقد ضم الی التصدیق بالقلب او بالقلب واللسان فی تحقیق الایمان امور الاخلال بها اخلال بالایمان کالسجود للصنم وقتل نبی والاستخفاف وبالمصحف وبالکعبة الخ (۵). فقط

که چیري ګناه وي نو زه یوازي به جواب ورکوم، دکفر کلمه نه ده: **سوال**: (۱۱) یو مسلمان دمسجد یو کونج دالله تعالي او درسول الله ﷺ دحکم خلاف جوړوي بل سړي ده ته فتوي وښودله چه په هغه کي ددرمختار او شامي عبارت دي دهغه په جواب کي ده وویل چه ما پریږده چه جوړوم یې که چیري ګناه وی نو ټول خلاص یاست دټولو ګناه پرما

(۱) الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب المرتد ج۲ ص۴۱۳. ط. س. ج۴ ص۲۴۲. ظفیر
(۲) الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب نکاح الکافر ج۲ ص۵۳۹. ط. س. ج۳ ص۱۹۳. ظفیر
(۳) سورة البینة: رکوع: ۱. ظفیر
(۴) حم السجدة: ۱۹۰. ظفیر
(۵) ردالمحتار باب المرتد ج۳ ۳۹۲. ط. س. ج۳ ص۲۲۳. ظفیر

باندي ده زه به يوازی الله تعالی ته جواب ورکوم دغه سړي وويل چه توبه وکړه دا الفاظ ډير بد دي هغه وويل چه نې کوم توبه نه باسم ددغه سړي دپاره شرعاً څه حکم دي په دغه الفاظو سره کفر لازميږي اوکه نه؟ او دويم سړي به هم ګناهګار وي اوکه نه؟

جواب: دغه سړي سخت ګناهګار سو توبه دي وکړي او انکارکول دتوبې څخه سخته ګناه ده کفر خو ددي وجي ورته نه سي ويل کيدي چه دا تاويل ممکن دي چه دچا په وينا سره دي هغه توبه نه باسي بهر حال داسي سړي ته خطاب نه کول په کار دي قال الله تعالی: واذا خاطبهم الجاهلون قالوا سلاما (١) او ديو سړي ګناه دبل پرذمه نه سي کيدي په حکم د: ولا تزر وازرة اخرى (٢). فقط

مرشد ته رسول او خداي ويلو والا مرتد اوکافر دي: **سوال**: (۱۲) چه کم سړي مرشد ته رسول او خداي ووايي دده په نسبت څه حکم دي؟ چه کم سړي دقيامت په تذکره کي وايي چه مخ ته ولاړ سي نو هر څه به معلوم سي بل سړي دده په جواب کي وايي چه مخ ته به څه ووينې خاوره به دخاوري سره يوځای سي، په دي ملك کي ډير رواج دي چه خوراك مخ ته اييږدي فاتحه لولي او چه کم سړي دالله تعالي دنور څخه درسول ﷺ نور مراد وايي دده څه حکم دي؟ او دتوبې څخه انکار کوي؟

جواب: چه کم سړي مرشد ته رسول او خداي وايي هغه کافر او مرتد دي اوکافر ويل مسلمان ته خپله کفر دي او انکار کول دحشر اونشر او حساب اوکتاب څخه هم کفر دي (٣) او دتوبې څخه انکار کول هم دمسلمان کار نه دي او فاتحه لوستل دخوراك په مخامخ ايښودو دسنت څخه خلاف دي او بدعت دي او دالله تعالي په ذاتي نورکي هيڅ ته شرکت نسته: ليس کمثله شيء، دالله تعالي په ذات او صفاتو کي څوك شريکول شرك جلي دي او دالله تعالي دنور تجزيه کول هم کفر اوشرك دي. فقط

قرآن کريم ته ښکنځل کول کفر دي: **سوال**: (۱۳) يو سړي قرآن شريف ته سخت ښکنځل وکړل او دتوبې کولو څخه يې سخت انکار وکی شرعًا څه حکم دي؟

جواب: قرآن شريف ته ښکنځل کول کفر دي (٤) والعيـاذ بالله، نو ددغه سړي سره چه دي

---

(١) الفرقان : ۱۴. ظفير　　(٢) سورة النجم : ۲. ظفير

(٣) من هزل بلفظ الكفر ارتد وان لم يعتقده الاستخفاف (درمختار) واشار الى ذلك بقوله للاستخفاف فان فعل ذلك استخفاف واستهانه بالدين الخ (ردالمحتار باب المرتد ج٣ ص٣٩٢. ط. س. ج٣ ص٢٢٢). ظفير

(٤) وبالجملة فقد ضم الى التصديق بالقلب التصديق بالقلب واللسان فى تحقيق الايمان امور الاخلال بها اخلال بالايمان اتفاقا كالسجود للصنم وقتل نبى والاستخفاف به وبالمصحف والكعبة (ردالمحتار باب المرتد ج٢ ص٣٩٢. ط. س. ج ٣ ص٢٢٢). ظفير

توبه دخپل کفر څخه هم نه کوي دمرتدينو اوکفارو معامله کول په کار دي او دده څخه دي قطعًا جدايي او متارکت وکړل سي قال الله تعالیٰ: فلا تقعد بعد الذكرى مع القوم الظالمين. [1]

<u>دمرتد سره تعلقات او راشه درشه ول حرام دي</u>: **سوال**: (۱۴) يو مسلمان عيسايي سو دده سره دوستي او مينه ساتل او په روڼ تندي ورسره ليدل او خوراك څيښناك څنګه دي؟

جواب: هغه سړي چه داسلام څخه واوښتی او عيسايي سو مرتد دي دده سره تعلقات او راشه درشه ساتل حرام او ناجائز دي اوپه روڼ او خوشحال تندي دده سره ليدل او مصافحه کول او دده سره خوراك څيښناك ساتل ناجائز او ممنوع دي داسي خلق چه دداسي مرتد سره په خوشحال تندي يوځای سي او ورسره يې خوراك څښناك وکی ګناهګار سو ددي څخه دي توبه وکړي او آئنده دي ددي څخه اجتناب وکړي. [2]

<u>دغصي په حالت کي دکفر کلمه ويل</u>: **سوال**: (۱۵) دغصې په حالت کي چونکه عقل مغلوب کيږي که چيري دکفر کلمه دخولي څخه ووزي نو قائل کافر دي اوکه نه؟

جواب: دغصی په حالت کي دکفر کلمه دژبې څخه په وتلو سره هم کفر کيږي توبه کول په کار دي او داسلام تجديد کول په کار دي. [3]

<u>دقرآن مجيد تحقير کفر دي</u>: **سوال**: (۱۶) دزيد او عمر تر مينځ دبيع او شراء په معامله کي تنازع راغله زيد ددي بيع قيمت فرضًا (۱۰۰) روپي وښووی عمر وويل چه ته قرآن شريف په لاس کي واخله زه به يې منظور کړم زيد وويل چه په قرآن شريف باندي دي نعوذ بالله سپی متيازي وکړي پر زيد باندي ددي قبيحی کلمې په ويلو سره څه حکم کيدي سي؟

جواب: زيد ددي قبيحي کلمي دتکلم په وجه کافر او مرتد سو او دده ښځه دده دنکاح څخه خارجه سوه داسلام تجديد، دنکاح تجديد او توبه او استغفار پر ده باندي واجب دي، په ردالمحتار کي دمسائره څخه نقل سويدي چه: وبالجملة فقد ضم الى التصديق بالقلب اوبالقلب واللسان في تحقيق الايمان امورالاخلال بهااخلال بالايمان اتفاقا كترک السجود

---

[1] الانعام: ۱۴. ظفير

[2] ومن ارتد عرض الحاكم عليه الاسلام استحبابا الخ وتكشف شبهة الخ ويحبس وجوبا ثلاثة ايام فان اسلم فبها والا قتل لحديث من بدل دينه فاقتلوه (الدر المختار على هامش ردالمحتار باب المرتد ج۳ ص۳۹۴. ط. س. ج۴ ص۲۲۵). ظفير

[3] من هزل بلفظ كفر ارتد وان لم يعتقده للاستخفاف (درمختار) اى تكلم به باختياره غير قاصد معناه وهذه لا ينافي ما مر ان الايمان هو التصديق فقط ومع الاقرار لان التصديق وان كان موجوداً حقيقة لكنه زائل حكما (ردالمحتار باب المرتد ج۳ ص۳۹۲، ط. س. ج۲ ص۲۲۲). ظفير

للصنم وقتل نبی والاستخفاف به و بالمصحف والکعبة الخ. فقط

دزوجینو څخه د یوه په کلمه دکفر سره نکاح فسخ کیږي: **سوال**: (۱۷) دهندي نکاح دزید سره شپږ اووه کاله وسول چه سوي وه زید په دومره وخت کي هیڅ قسم حق دهندي ادا نه کی دزید نه پرمجامعت باندي قدرت سته اونه خرچ او خوراك ورکوي بلکه دزید عادت داغلام کولو دی چه دهغه په وجه یې پرمجامعت باندي قدرت پاته نه سو او دوالدینو ددوکي په وجه طلاق نه ورکوي دډیر تکلیف رسیدو په وجه اکثر اوقات دهندي دژبې څخه دکفر کلمي هم جاري کیږي نو هنده دکفر دکلمي په وجه دعقد نکاح څخه ووته اوکه نه؟ که چیري نه وي وتلي نو داسي صورت تحریرکړئ چه هنده دزید څخه جلا سي؟

جواب: د طلاق ورکولو څخه بغیر دخاوند هیڅ صورت دجدایي نسته البته که چیري دکفر کلمه دزوجینو څخه دچا دژبې څخه داسي وتلي دي چه په اتفاق سره کفر وي په دي سره نکاح فوراً فسخ کیږي لیکن دنکاح دفسخ کولو دپاره دا ضروري ده چه دغه کلمه دکفر داسي وي چه دتاویل گنجائش پکښي نه وي او مسئله دا هم ده چه دخاوند څخهپه زور سره که چیري طلاق واخیستل سي نوبیا هم طلاق واقع کیږي لقوله علیه السلام ثلث جدهن جد وهزلهن جد الحدیث. (۱)

دشریعت منکر کافر دي: **سوال**: (۱۸) که چیري یو سړي دشریعت څخه انکار وکړي او ووایي چه موږ شریعت نه منو ستاسو شرع دي ستاسو په کورکي وي، آیا دغه سړي مرتد سو اوکه نه او دده بي بي طلاقه سوه اوکه نه؟

۲: په یو مجلس کي دیو مولوي سره دڅه شرعي مسائلو تذکره کیده ناگهانه یو سړي آخر دبغض په طور دعلماؤ ډیر حقارت استهزاء او توبیخ کول یې شروع کړل، دداسي سړي دپاره شرعي حکم څه دي؟

جواب: اقول وبالله التوفیق قال فی ردالمحتار وفی الخلاصة وغیرها اذا کان فی المسئلة وجوه توجب التکفیر ووجه واحد یمنعه فعلی المفتی ان یمیل الی الوجه الذی یمنع التکفیر الخ (۲) ص۲۸۵ باب المرتد، وفیه عن جامع الفصولین وعلی هذا ینبغی ان یکفر من شتم دین مسلم ولکن یمکن التاویل بان مراده اخلاقه الردئیة ومعاملته القبیحة لا حقیقة دین الاسلام فینبغی ان لا یکفر حینئذ والله تعالی اعلم ج۳ ص۲۸۹ (۳) شامی وقد سئل فی الخیریة عمن قال له الحاکم ارض بالشرع فقال لا اقبل فافتی

---

(۱) مشکوة کتاب الطلاق ص۲۸۴. ظفیر

(۲) الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب المرتد ج۳ ص۳۹۹. ط. س. ج۴ ص۲۳۰. ظفیر

(۳) ردالمحتار باب المرتد ج۳ ص۳۹۹. ط. س. ج۴ ص۲۳۰. ظفیر

مفتی بانه کفر وبانت زوجته فهل یثبت کفره بذالك فاجاب بانه لا ینبغی للعالم ان یبادر بتکفیر اهل الاسلام الی اخره [۱] وفی الدر المختار والفاظه تعرف فی الفتاوی بل افردت بالتالیف مع انه لایفتی بالکفر بشيء منها الا فیما اتفق المشائخ علیه کما سیجیئ قال فی البحر وقد الزمت نفسی ان لا افتی بشيء منها [۲] ونقل تمام عبارته فی الشامی وفی اخره فعلی هذا فاکثر الفاظ التکفیر المذکورة لا یفتی بالتکفیر فیها ولقد الزمت نفسی ان لا افتی بشيء منها اهـ کلام البحر باختصار شامی [۳] ص۲۸۵، نو ګناهګار سو کافر نه سو. فقط

چه کم سړي دمسجد توهین وکړي او امام ته ښکنځل وکړي: **سوال**: (۱۹) که چیري یو سړي دمال دغرور دوجي ووایي چه زه په مسجد کي متیازی کوم او امام ته ښکنځل وکړي دداسي سړي دپاره څه حکم دي؟ او چه کم اشخاص دده مددګار دي او دمسجد لوټې خرابي کړي او ددې څخه پاکوالي کوي دده دپاره څه حکم دي او هغه لوټی پاکي پاته کیدلی سي اوکه نه؟

جواب: دداسي سړي دپاره په شریعت کي دکفر بیره ده توبه دي وکړي او تجدید دنکاح دي وکړي او چه کم خلق ددغه فاسق او فاجر مددګار وي هغوی هم عاصي او فاسق دي توبه دي وکړي او آئنده دي داسي دحرکاتو څخه منع سي [۴] او دمسجد لوټې دي نه خرابوي او دغه لوټې دي ناپاکه نه ګڼي ځکه چه ترڅو پوري دپلیتی لګیدل په یقیني طور سره معلوم نه وي تر هغه وخته پوري به دناپاکی حکم نه کول کیږي. [۵]

دشریعت پرځای که چیری رواج ومني: **سوال**: (۲۰) وکیل مدعي علیه مدعي ته وویل چه ته شرح محمدي مني اوکه نه؟ نو مدعي وویل چه څنګه رواج دي ته هغه کوه دلته دشرع څه کار دي ددغه سړي په نسبت څه حکم دي؟

جواب: دمسلمان شرع محمدي نه منل او دا ویل چه درواج موافق وکړی دلته دشریعت څه کار دي سخته ګناه ده چه په دي کي دکفر بیره ده ددي کلمي څخه توبه ایستل په کار دي او دایمان تجدید کول په کار دي. [۶]

---

[۱] ایضًا ط. س. ج۴ ص۲۳۰. ظفیر

[۲] الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب المرتد ج۳ ص۳۹۲ – ۳۹۳، ط. س. ج۴ ص۲۲۳. ظفیر

[۳] ردالمحتار باب المرتد ج۳ ص۳۹۳. ط. س. ج۴ ص۲۲۲. ظفیر

[۴] سیذکر الشارح ان ما یکون کفراً اتفاقا یبطل العمل والنکاح وما فیه خلاف یؤمر بالاستغفار والتوبة وتجدید النکاح (ردالمحتار باب المرتد ج۳ ص۳۹۹. ط. س. ج۴ ص۲۳۰). ظفیر

[۵] الیقین لا یزول بالشك دفقهی یوه قاعده کلیه ده. ظفیر

[۶] من اهان الشریعة والمسائل التی لابد منها کفر (شرح فقه اکبر ص۲۱۵). ظفیر

دټولو علماؤ په اتفاق سره قادیانیان کافران دي: **سوال**: (۲۱) یو سړي دقادیانیانو په فرقه کي داخل سوي دي او خیالات او عقائد دمرزا قادیاني لري اوس به دده تکفیرکول کیږي اوکه نه؟ او دده بي بي به دده دنکاح څخه خارجه وي اوکه نه؟

جواب: اهل حق علماؤ په اتفاق سره دقادیانیانو تکفیر کړي دي ځکه چه عقائد او اقوال ددوی بالاتفاق کفر دي نوچه کم سړي قادیاني سي او عقائد دده دمرزا قادیاني په شان سي او دقادیانیانو دعقائدو په شان دي مرزا نبي ګڼي دي کافر او مرتد دي او دفقهی مسئله ده چه مرتد کیدل دیوه دزوجینو څخه فوراً دنکاح دفسخ موجب دي، په درمختار کي دي: وارتداد احدهما فسخ عاجل (۱) الخ لهذا زوجه ددغه سړي چه قادیاني سو دده دنکاح څخه خارجه سوه. فقط

په ارتداد سره نکاح ماتیږي: **سوال**: (۲۲) که چیري یوه واده سوي مسلمانه ښځه داهل سنت والجماعة والا دځپل مذهب څخه منحرفه سي مثلاً شیعه یا مرزایی یا بل یو داسي مذهب ته ولاړه سي چه داسلام څخه غیر وي نو آیا ددي سابقه نکاح داسلام پرحالت صحیح پاته کیدي سي اوکه نه؟

جواب: که چیري سنیه مسلمانه منکوحه ښځه یوداسي مذهب اختیار کړي کم چي په اتفاق سره کفر او ارتداد وي لکه مرزایی کیدل یا دغلاة روافضو څخه کیدل، نو نکاح ددې دمخکني زوج سره فوراً ماتیږي، کما في الدر المختار: وارتداد احدهما فسخ عاجل الخ. (۲)

دمرزایانو پرکفر باندي دعلماؤ اتفاق دي: **سوال**: (۲۳) دیوې ښځي خاوند مرزایی سو څلور پنځه کاله وخت تیر سو، ښځه خپل خاوند دکفارو په ټولی کي شمیري او هلته په ورتګ باندي راضي نه ده، آیا دخاوند په مرزایی کیدو سره نکاح فسخ سوه اوکه نه؟

جواب: دمرزایانو پرکفر باندي دعلماؤ فتوي ده نوچه کله ددغه زنانه خاوند مرزایی سو نو نکاح فوراً فسخ سوه کما فی الدر المختار: وارتداد أحدهما فسخ عاجل الخ (۳) نودغه زنانه ددغه مرزایی خاوند څخه چه هرڅنګه کیدي سي جلا دي کړل سي او دعدت څخه وروسته دویمه نکاح دي وکړل سی. فقط

دنبي ﷺ څخه وروسته دنبوت دعوه کفر او ارتداد دي: **سوال**: (۲۴) چه دکم سړي قول په خپل نسبت داوي چه چاته امن او امان اوصراط مستقیم په کار وي نو هغه دي دسلطان

---

(۱) الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب نکاح الکافر ج۲ ص۵۳۹. ط. س. ج ۳ ص۱۹۳. ظفیر
(۲) الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب نکاح الکافر ج۲ ص۵۳۹. ط. س. ج ۳ ص۱۹۳. ظفیر
(۳) الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب نکاح الکافر ج۲ ص۵۳۹. ط. س. ج ۳ ص۱۹۳. ظفیر

الاولياء خاتم الولايت عليه الصلوة والسلام دموجوده خليفه احمدزمان نومي سړي ته راسي دصراط مستقيم لاره دي ووينې ددغه مذكوره سړي او دده دمددگارو په نسبت شرعًا څه حكم دي؟ او ددي دعوي په ضمن كي دمهدي موعود او درسالت هم دعوه ده داسي سړي مسلمان پاته كيدي سي اوكه نه؟ او دغه سړي دمريدانو سره احمد زمان رسول الله وايي. بينوا تؤجروا !

جواب: وعن ابی هريرة رضی الله عنه قال قال رسول الله ﷺ يكون فی آخر الزمان دجالون كذابون ياتونكم عن الاحاديث ما لم تسمعوا انتم ولا اباءكم فاياكم واياهم لا يضلونكم ولا يفتنونكم (رواه مسلم) ([1]) او په بعضو رواياتو كي راغي چه ديرش دجالان به وي هر يو ددوی څخه به دنبوت دعوي كوي، الحديث، نودغه مذكوره سړي چه دخپلو مريدانو سره په خپل نسبت رسول الله وايي او ددغه كلمي څخه هغه نه منع كوي او هدايت دصراط مستقيم په خپله اتباع كي منحصر گڼي او وايي هغه باليقين دجال اوكذاب دی او اهل باطل اوضال اومضل دی، مسلمانانو لره ددوی دصحبت او گمراهی څخه احتراز په كار دي او لازم دي دزيات ليكلو په دي كی ضرورت نسته ځكه چه بطلان دده او دده دطريقې ترلمر هم ښكاره دي، او دالله تعالي ښكاره ارشاد دي: ماكان محمد ابا احد من رجالكم ولكن رسول الله وخاتم النبيين ([2]) او جناب رسول الله ﷺ صفا فرمايي: فلانبی بعدی ([3]) چه زما څخه وروسته به هيڅوك نبي نه وي نو بيا دنبوت ددعويدار په اهل باطل او اهل ضلال كيدو كي مسلمانانو ته څه شبهه كيدي سي او دده په كفر او ارتداد كي څه ريب اوتردد دي.

<u>**مسلمانه ښځه دكور څخه ووته او آريه سوه نو نكاح فسخ سوه**</u>: **سوال**: (**۲۵**) كه چيري يوه مسلمانه منكوحه ښځه دخپل خاوند دكور څخه ووته آريه سوه يا عيسايي سوه نو ددي نكاح باقي پاته كيدي سي اوكه نه؟

جواب: دزوجينو څخه ديوه مرتد كيدل فورًا نكاح فسخ كوي، كما في الدر المختار وارتداد احدهما فسخ عاجل ([4]) نوچه كله يوه مسلمانه ښځه آريه يا عيسايی سوه نو نكاح ددي دخپل خاوند څخه فورًا فسخ سوه كه چيري دي دوباره اسلام راوړی نو تجديد دنكاح ضروري دي او فقهاؤ پردي فتوي وركړي ده چه ښځه كله مرتده سي نو دا

([1]) مشكوة باب الاعتصام بالكتاب والسنة ص۲۸. ظفير
([2]) الاحزاب: ۲. ظفير
([3]) وختم بی الرسل وانا خاتم النبيين متفق عليه (مشكوة باب فضائل سيد المرسلين ص**۵۱۱**). ظفير
([4]) الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب نكاح الكافر ج۲ ص**۵۳۹**. ط. س. ج ۳ ص۱۹۳. ظفير

به په زوره مسلمانولي سي او داول خاوند سره به ددي په لږ مهر باندي نکاح کول کيږي. (۱). فقط

دکفر دکلمي څخه وروسته هم توبه قبليدي سي: **سوال**: (۲٦) يو سړي ملازم يو مجرم دافسر په حکم گرفتار کړی بيا يو دوه سړي راغلل دغه ملازم ته يې وويل چه دا مجرم پريږده ليکن ملازم ونه منل او په اصرار کولو باندي دملازم دژبي څخه دا الفاظ ووتل که چيري پيغمبر هم راسي او راته ووايي نو هم يې نه پريږدم په دې سره پرده باندي علماؤ دکفر فتوي ورکړيده او وايي چه ستا توبه نه قبليږي آيا دده توبه قبليږي اوکه نه؟ او ده ته معافي څنگه کيدي سي؟

جواب: توبه به دده قبوله سي ده ته په کار دي چه تجديد دايمان وکړي او توبه وباسي: قال الله تعالى وهو الذى يقبل التوبة عن عباده الاية. (۲)

قرآن شريف دتمسخر په طريقه غورزول کفر دي: **سوال**: (۲۷) زيد دخپلي لور نابالغي نکاح دعمر سره وکړه عمر محضي لاعلم، جاهل، فاسق، فاجر دلمونځ او روژی پرينبودونکي او زناکار دی، مريم ته تکليف رسوي بار بار يې قرآن شريف دتلاوت په وخت وغورزوی که چيري زيد مريم اوس بيا عمر ته وليږي نو مريم دخودکشی اراده لري او عمر دمريم دوهلو يا خرڅولو اراده لري نو شرعًا څه حکم دي؟

جواب: قرآن شريف دسپکوالي په طريقه غورزول کفر او ارتداد دي (۳) په داسي حالت کي بي بي مريم دده دنکاح څخه خارجه سوه (۴) نومريم دي دعمر کورته ونه ليږل سي. او دويمه نکاح ددي دعدت څخه وروسته درسته ده. فقط

دا ويل چه دالله او رسول څخه فائده ونه سوه کفر دي: **سوال**: (۲۸) يو څو مسلمانانو دهندوانو په طلب دموافقت او مشارکت باندي دهندوانو سره په راجه گدي (تخت سلطنت باندي چه هغه يوشکل وي) په گلان اوگلونو اچولوسره سجده وکړه او دهندوانو

---

(۱) لو ارتدت الخ تجبر على الاسلام وعلى تجديد النكاح زجرا لها بمهر يسير كدينار وعليه الفتوى (الدرالمختار على هامش ردالمحتار باب نكاح الكافر ج۲ ص۵۴۰. ط. س. ج۳ ص۱۹۴). ظفير

(۲) سورة الشورٰى، رکوع : ۴. ظفير

(۳) والكافر بسب نبى من الانبياء فانه يقتل حدا ولا تقبل توبته مطلقا (درمختار) يعنى انه جزاءه القتل على وجه كونه حدا قوله لا تقبل توبته لان الحد لا يسقط بالتوبة وافاد انه حكم الدنيا واما عند الله تعالى فهى مقبولة (ردالمحتار باب المرتد ج۳ ص۰ ۴۵ ط. س. ج۴ ص۲۳۱). ظفير

(۴) وبالجمله قد ضم الى التصديق بالقلب او بالقلب واللسان فى تحقيق الايمان امور الاخلال بها اخلال بالايمان اتفاقا كسجود الصنم وقتل نبى والاستخفاف به وبالمصحف الخ (ردالمحتار باب المرتد ج۳ ص۳۹۲. ط. س. ج۴ ص۲۲۲). ظفير

سره يې جي جي ويل شروع كړل او بعضو ددوی څخه دا هم وويل چه موږ ته دالله او رسول څخه هيڅ فايده ونه سوه نو دي مشرك سو اوكه نه؟

جواب: په دي صورت كي ده ته تجديد داسلام او تجديد دنكاح لازم دي كذا فى ردالمحتار وغيره. (۱)

قرآن او حديث او فقهي ته دشيطان كتابونه ويل كفر او ارتداد دي: **سوال**: (۲۹) يو مسلمان په قرآن وحديث باندي عمل كوي او خلقو ته يې هم بيانوي او خلقو ته په هغه باندي دعمل كولو ترغيب وركوي داسي سړي ته يو مسلمان شيطان وايي او قرآن اوحديث ته دشيطان كتاب وايي دداسي سړي په باره كي حكم شرعي څه دي؟

جواب: اول دا معلومول په كار دي چه هغه سړي چه په قرآن او حديث باندي عمل كوونكي ورته ويل سوي دي هغه مروج عامل بالحديث يعنى هسي غير مقلد خو نه دي چه دقرآن او حديث سليقهٔ تطبيق بين الاحاديث نه لري او دفقهى او دفقهى دكتابونو څخه انكار او خلاف كوي دداسي خلقو حال دا دي چه دعوي ددوی په قرآن او حديث باندي دعمل كولو وي ليكن په اصل كي هغه پوره عامل دقرآن او حديث نه دي ځكه چه دائمهٔ مجتهدين خصوصًا دامام ابوحنيفه ﷺ خلاف كوي او پرده باندي طعن كوي اوكه چيري دي عامل بالحديث والقرآن حنفي دي او دفقه حنفي موافق چه عين مطابق دقرآن او حديث دي عمل كوي او مقلد دي حنفي سني دي نو داسي عامل حنفي متبع دسنت ته بد رد ويل انتهايي مذموم او قبيح دي خو بهر حال قرآن اوحديث او فقهى ته شيطاني كتاب ويل العياذ بالله كفر صريح او ارتداد قبيح دي. (۲)

دمشركانو اولاد دبلوغ څخه مخكي: **سوال**: (۳۰) دمشركانو كوچني اولادونه تربلوغ پوري دوالدينو پردين يعنى كفري دين باندي دي اوكه پردين اسلام باندي؟

جواب: احاديث په دې باره كي مختلف دي لكه څنګه چه كل مولود الخ وارد دي، دغه رنګه: اٰمن اباءهم او الله اعلم بما كانوا عاملين، وغيره هم وارد دي او بحث په دي كی طويل دي او يوڅه قدر يې په شامي كي دجنازي په اوائلو كي هم دا اختلاف بيان كړي دي او محقيقينو اګر چه راجح ديته ويلی دي چه دوی جنتيان دي ليكن دا حكم اخروي

---

(۱) وارتداد احدهما فسخ عاجل (الدرالمختار على هامش ردالمحتار باب نكاح الكافر ج۲ ص۵۳۹. ط. س. ج۳ ص۱۹۳). ظفير

(۲) وبالجملة فقد ضم الى التصديق الخ فى تحقيق الايمان امور الاخلال بها اخلال بالايمان كسجود صنم وقتل نبى والا ستخفاف به وبالمصحف الخ (ردالمحتار باب المرتد ج۳ ص۳۹۲. ط. س. ج۴ ص۲۲۲) وارتداد احدهما فسخ عاجل (درمختار ط. س. ج۳ ص۱۹۳). ظفير

دي او دنيوي او ظاهري حكم دادي چي تفصيل يې فقهاؤ ليكلى دي چه حكم داسلام دصبى يا تبعًا لاحد الابوين كيدي سي يا تبعًا لدار الاسلام وغيره يا دا چه خپله صبي عاقل اسلام راوړي كما فى الدر المختار وردالمحتار وغيره. (١)

قرآن عزيز ته بد رد ويل كفر دي: **سوال**: (٣١) يو سړي دقرآن عزيز په حق كي په مجمع عام كي بغير دارتفاع دموانع شرعيه وو بد رد وويل والعياذ بالله تعالي نو آيا دغه سړي شرعًا كافر سو اوكه نه او تجديد دنكاح او تلقين وغيره امور شرعيه هم ضروري دي اوكه نه؟

جواب: دده په ارتداد كي هيڅ شبهه نسته تجديد داسلام او تجديد دنكاح ده ته ضروري دي. (٢)

اذان ته دمار دآواز سره تشبيه وركول كفر دي: **سوال**: (٣٢) زيد فاسق او فاجر دي او دهندوانو سره لاره او رسم لري دماخوستن اذان چه كله مؤذن وكى نو داذان دكلماتو په اوريدو سره زيد يو هندو ته وويل: کاکا ڈونڑا بولا کھانا لاؤ، په دې علاقه كي (ڈونڑا) مار ته ويل كيږي، چه انتهايى سپك ګڼل كيږي په دې صورت كي دزيد په اړوند شرعًا څه حكم دي؟ او عمر ده ته سزا وركولي سي اوكه نه او زيد دكمى سزا مستحق دي؟ عمر وايي چه زيد ته په كار دي چه اول كلمه ولولي او توبه وكړي كلمه لوستل او توبه كول دده ضروري دي؟

جواب: دزيد دا كلمات دكفر دي بي شكه ده ته توبه، تجديد دايمان اوتجديد داسلام كول په كار دي او هيڅ سزا عمر په دې زمانه كي نه سي وركولي او نه شرعًا په موجوده زمانه كي هغه دسزا وركولو مكلف دي لهذا صرف زيد ته به وويل سي چه توبه وكړي اوكلمه ولولي چه بيا هغه مسلمان سي. (٣)

---

(١) ايما رجل مسلم سب رسول الله ﷺ اوكذبه اوعابه اوينقصه فقد كفر بالله تعالى وبانت منه امرأته (ردالمحتار باب المرتدج٣ ص٤٠٣. ط. س. ج ٤ ص٢٣٤). ظفير

(٢) الاصح ان الانبياء لا يسئلون ولا اطفال المؤمنين وتوقف الامام فى اطفال المشركين وقيل هم خدام اهل الجنة (درمختار) قوله توقف الامام الخ اى فى انهم يسئلون وفى انهم فى الجنة او النار وقال ابن الهمام فى مسائرته وقد اختلف فى سوال اطفال المشركين وفى دخولهم الجنة اوالنار فتردد فيهم ابوحنيفة وغيره، قد وردت فيهم اخبار متعارضة فالسبيل تفويض امرهم الى الله تعالى وقال محمد بن الحسن اعلم ان الله لا يعذب احدا بلا ذنب اه وقال ابوالبركات النسفى عن ابى حنيفة الرواية الصحيحة انهم فى المشيئة لظاهر الحديث الصحيح الله اعلم بما كانوا عاملين (ردالمحتار باب الجنائز ج١ ص ٧٩٨. ط. س. ج ٢ ص١٩٢). ظفير

(٣) وبالجملة فقد ضم الى التصديق الخ امور الاخلال بها اخلال بالايمان كقتل نبى والاستخفاف به وبالمصحف الخ (ردالمحتار باب المرتد ج٣ ص٣٩٣. ط. س. ج٤ ص٢٢٢). ظفير

ماته داسلام ضرورت نسته دا دکفر کلمه ده: سوال: (۳۳) يو سړي وويل چه ای زما تير سوي کال والا خدايه! بل سړي ده ته وويل چه دا خو دکفر کلمه ده ددي څخه دوه خدايان ثابتيږي او سړي کافر کيږي، نو هغه وويل چه ماته داسلام ضرورت نسته زه به رام رام کوم !!! آيا داسي سړي مسلمان کيدي سي او دده دپاره څه حکم دي؟

جواب: په مخکي کلمي سره خو کفر نه وو سوي ځکه چه ددي مطلب دا اخيستل په کاردي چه ای زما دهميشه دپاره خدايه کما ورد: فهو الان کما کان، ليکن بل سړي چه په خپل جهالت او غلطي سره ده ته دا وويل چه دا دکفرکلمه ده او په دي باندي هغه وويل چه ماته داسلام ضرورت نسته الخ نودا دکفر کلمه ده نودغه سړي دي توبه وکړي او تجديد داسلام اوتجديد دنکاح دي وکړي. (۱)

زما دالله تعالي او رسول ﷺ سره هيڅ واسطه نسته دا دکفر کلمه ده: سوال: (۳۴) يو سړي دپنځو شپږو کسانو په مخ کي علي الاعلان دا وويل چه زما دالله تعالي او رسول الله ﷺ سره هيڅ واسطه نسته دا سړي مسلمان پاته سو اوکه نه؟

جواب: دا کلمه دکفر ده دي سړي لره توبه تجديد داسلام او تجديد دنکاح کول په کار دي، اوآينده دداسي کلماتو څخه احتراز کول په کار دي. (۲)

دحرام حلال ګڼونکي حکم: سوال: (۳۵) فعل حرام حلال ګڼونکي مسلمان پاته کيدي سي اوکه نه؟

جواب: په دي کي تفصيل دي چه دشامي په باب المرتد کي مذکور دي حاصل يې دادي چه دهر يوه حرام په حلال ګڼلو سره يا برعکس کافر نه دي، بلکه په دي کی يو څو قيدونه دي چه دکتاب مذکور په ذکر سوي ځای کي منقول دي، هلته يې ملاحظه کړئ. (۳)

الله تعالي ته بوډا ويل کلمه دکفر ده: سوال: (۳۶) زيد په يوه خبره کي وويل چه الله تعالي آيا زموږ څخه ښه دي او موږ خو هم الله يو، دوه درې ځله يې دا الفاظ وويل او يوځل يې

---

(۱) ويظهر من هذا ان ما کان دليل الاستخفاف يکفر به وان لم يقصد الاستخفاف الخ (ردالمحتار باب المرتد ج۳ ص ۳۹۲. ط. س. ج ۴ ص۲۲۲). ظفير

(۲) من هزل بلفظ کفر ارتد وان لم يعتقده الاستخفاف فهم لکفر العناد (درمختار) هزل ای تکلم به باختياره غير قاصد معناه (ردالمحتار باب المرتد ج۳ ص۳۹۲. ط. س. ج۴ ص۲۲۲). ظفير

(۳) والحاصل ان من تکلم بکلمة الکفر هازلا او لاعبا کفر عند الکل ولا اعتبار باعتقاده کما صرح به الخانية (ردالمحتار باب المرتد ج۳ ص۳۹۳. ط. س. ج۴ ص۲۲۲) مايکون کفرا اتفاقا يبطل العمل والنکاح الخ وما فيه خلاف يؤمر بالاستغفار والتوبة وتجديد النکاح (درمختار) قوله والتوبة ای تجديد الاسلام (ردالمحتار باب المرتد ج۳ ص۴۱۴. ط. س. ج۲ ص۲۴۲). ظفير

درمضان شریف څخه دوي، درې ورځې مخکې دا الفاظ وویل چه اوس به په دوو درو ورځو کې دبوډا حکم ومنل سي یعنی روژه به ونیسو او دا چه الله پاك خو ډېرو ورځو دي آیا تر اوسه پورې به بوډا سوي نه وي (نعوذ بالله تعالی) په دې صورت کې څه حکم پرعمر باندې شرعًا عائد کیږي؟ بیان یې کړی !

جواب: دا کلمات دعمر دکفر دي تر هغه وخته پورې چه هغه توبه ونه باسي او دایمان تجدید ونه کړي په ده پسې دي لمونځ نه کوي. ([1]) فقط

شریعت ته ښکنځلو کولو والا کافر دی: **سوال**: (۳۷) یو سړي ماته وویل چې ستا دمذهب دمور سره زنا وکړم، دمجلس په حاضرینو کي یوه ورته وویل چې ستا به ډیره سخته سزا وي که په شریعت کې ستا په اړه پوښتنه وکړل سي او ته شرعي حاکمانو ته په لاس ورسي ولي چې تا ومذهب ته بدرد وویل او ښکنځل دي ورته وکړه، هغه شخص دوباره ښکنځل وکړه او وې ویل: چې دشریعت چلوونکي دمور سره زنا وکړم، په دې صورت کې ددې الفاظو پر ویونکو باندې څه حکم پکار دی؟

جواب: قال فی الدر المختار وکما لو سجد لصنم او وضع مصحفا فی قاذورة فانه یکفر الخ واشار بقوله للاستخفاف فان فعل ذالك استخفافا واستهانا بالدین فهو امارة عدم التصدیق الخ ج۳ ص۳۸۴ ردالمحتار ([2]) وفی شرح الفقه الاکبر وفی المحیط من جلس علی مکان مرتفع ویسئلون منه مسائل بطریق الاستهزاء ثم یضربونه بالوسائد ای مثلاً وهم یضحکون کفروا جمیعا لاستخفافهم بالشرع وکذا لو لم یجلس علی المکان المرتفع الخ ([3]) نومعلومه سوه چه شریعت ته ښکنځل کوونکي کافر دي، والعیاذ بالله.

دا ویل چه کله رسول الله ﷺ وفات سو نو ایمان هم مړ سو کفر نه دي: **سوال**: (۳۸) دزید قول دي چه کمو خلقو محضې په رسول الله ﷺ باندې ایمان راوړی وو چه کله رسول الله ﷺ وفات سو نو دهغوی ایمان هم مړ سو ولې چه محض په رسول الله ﷺ یې ایمان راوړی ؤ، آیا پرزید باندې شرعًا تکفیر سته اوکه نه؟

جواب: دده تکفیر به نه سي کیدي ځکه چه دده مطلب به غالبًا دده دځپلي غلط فهمي څخه داسي وي چه لکه څنګه چې ابوبکر صدیق ﷛ دنبي علیه السلام دوفات څخه وروسته خطبه لوستلي وه او هغه خلق یې متنبه کړي وه چه ویل یې چه نبي ﷺ نه دي

([1]) والاصل ان من اعتقد الحرام حلالا فان کان حراما لغیره کمالل الغیر لایکفر وان کان بعینه فان دلیله قطعیا کفر والا فلا الخ فیکفر اذا قال الخمر لیس بحرام (ردالمحتار باب المرتد ج۳ ص۳۹۳. ط. س. ج ۲ ص۲۲۳).

([2]) ردالمحتار باب المرتد ج۳، ط س. ج۴ ص۲۲۲. ظفیر

([3]) شرح فقه اکبر ص۲۱۳ – ۲۱۴. ظفیر

وفات سوي په هغه خطبه کي دا الفاظ منقول دي: من کان یعبد محمداً ﷺ فانه قد مات ومن کان یعبد الله فان الله حیٌّ لایموت الخ (١) یعنی چه کم سړي دمحمد ﷺ عبادت کوی نو واضحه سوه چه محمد ﷺ وفات سو او چه کم سړي دالله تعالي عبادت کوی نو الله تعالي ژوندي دي هغه هیڅکله نه مري الخ لیکن ظاهره ده چه دابوبکر صدیق رضي الله عنه چه کم مطلب دي هغه بالکل صحیح دی او دزید دقول خلاف دي کم چه زید په غلطئ سره داسي فهم کړي دي نودزید مذکوره الفاظ ویل غلط او باطل دي ځکه چه کمو خلګو په رسول الله ﷺ باندي ایمان راوړي لهذا دوی کامل مومنان دي او دنبي ﷺ دوفات څخه وروسته هم دوی مومنان دي او ایمان ددوی کامل پاته سو نومذکوره الفاظ ویل دزید دپاره جائز نه دي او دا دده دجهالت خبره ده لیکن دتاویل دامکان په وجه ده ته به کافر نه سي ویل کیدی لیکن دي سخت ګناهګار دي توبه دي وکړي اوآئنده دي داسي الفاظ دژبي څخه نه باسي. (٢)

یو سړي دا وویل که چیري په لمانځه سره مسلمانیږي نو زه کافر یم: **سوال**: (٣٩) زید ته چا دا خبره وکړه چه ته مسلمان یې تا ته لمونځ کول په کار دي ته څنګه مسلمان یې چه لمونځ نه کوي هغه صفا دا وویل که چیري په لمانځه سره مسلماني وي نو زه کافر یم یایو سړي دا ووایی چه ځه ځه ته ډېر لوي لمونځ ګذار یې بس دا جنت ته پیژني موږ په دوزخ کي اوسیږو داسي خلق کافران دي که مسلمانان؟

جواب: دا کلمه دکفر ده دغه سړي کافر سو ده ته په کار دي چه توبه وباسي او داسلام تجدید دي وکړي. فقط

دخاوند په مرتد کیدو سره نکاح فسخ کیږي: **سوال**: (٤٠) زید یوازی عیسایی سو دده بي بي او نور خاندان والا داسلام پردستور باندي کلك پاته سول نو دده بي بي ته یو څو کاله وروسته ددویمی نکاح کولو دپاره دطلاق اخیستو ضرورت سته اوکه نه؟

جواب: زید چه کله عیسایی سو او دده بي بي مسلمانه پاته سوه نو نکاح ددي فوراً فسخ سوه دعدې څخه وروسته دویمه نکاح کول ورلره جائز او درست دي کما فی الدرالمختار وارتداد احدهما فسخ عاجل. (٣)

(١) اعلم ان لا یفتی بکفر مسلم امکن حمل کلامه علی محمل حسن (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب المرتد ط. س. ج۴ ص۲۳۹). ظفیر

(٢) اعلم انه اذا تکلم بکلمة الکفر عالما بمعناها ولا یعتقد معناها لکن صدرت عنه من غیر اکراه بل مع طواعیة فانه یحکم علیه بالکفر الخ (شرح فقه اکبر ص۲۰۲). ظفیر

(٣) الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب نکاح الکافر ج۲ ص۵۳۹. ط. س. ج۲. ظفیر

چه څوک اسلام ته بد رد ووايي او ښکنځل ورته وکړي نو دي داسلام څخه خارج دي: **سوال**: (۴۱) که چيري يوسړي دا هل اسلام او دمذهب داسلام توهين وکړي اوبد الفاظ ووايي او ښکنځل وکړي دداسي سړي په نسبت څه حکم دي؟

جواب: په دي کی هيڅ شك او شبهه نسته چه کم سړي دين اسلام ته بد رد ووايي او ښکنځل وکړي هغه داسلام څخه خارج دي پرده لازم دي چه توبه وکړي او دتجديد داسلام اوتجديد دنکاح وکړي کنه نودده څخه دمسلمانانومتارکت اوجدايي فرض ده. ([1])

رسول الله ﷺ ته په ښکنځل کولو سره سړي کافر کيږي: **سوال**: (۴۲) يو سړي خپله بي بي ووهله ښځي خاوند ته وويل چه دالله جل جلاله او رسول الله ﷺ په واسطه ما مه وهه په دي باندي ددي خاوند دالله ﷻ او رسول ﷺ په شان کي سخت ښکنځل وکړل، دي کافر سو اوکه نه؟ او دده بي بي دده دنکاح څخه ووته او دويمه نکاح کولي سي اوکه نه؟ او داولاد دپرورش حق چاته دي؟

جواب: دغه سړي کافر سو ([2]) او دده بي بي دده دنکاح څخه خارجه سوه دعدت تيريدو څخه وروسته دبل سړي سره نکاح کولي سي او داولاد پرورش به هم هغه کوي. ([3])

دتناسخ قائل او دجنت او دوزخ منکر کافر او ملحد دي: **سوال**: (۴۳) ديو مسلمان عقائد په لاندي ډول دي: دتناسخ قائل کيدل، ددوزخ او جنت منکر کيدل، ددي ژوند څخه وروسته هم دغه رنگه دهميشه دپاره ترقي کول، قرآن شريف دنورو کتابونو په شان گڼل او په پروته يې لوستل، دياجوج اوماجوج وغيره واقعاتو څخه منکر کيدل، او دا ويل چه ما دفلسفي فلاني کتاب ته په قرآن مجيد باندي ترجيح ورکړي ده او چه کم وخت دقرآن شريف په لوستلو کي صرف کيږي هغه په دي کی صرف کوم دداسي سړي دپاره څه حکم دي؟

جواب: په دي عقيدو او افعالو کي بعضي کفر اوالحاد او بعضي غير ثابت او حرام دي او بعضي په بي ادبۍ کي داخل دي نوچه دکم سړي دا تمام عقائد وي هغه مؤمن او مسلمان نه دي کافر، ملحد، زنديق دي داسي سړي که چيري توبه ونه باسي نو ورسره متارکت لازم دي اوکه چيري اسلامي حکومت وي اوداسي سړي توبه ونه باسي نوواجب

([1]) وعلى هذا ينبغى يكفر من شتم دين مسلم ولكن يمكن التاويل. ظفير

([2]) يكفر اذا وصف الله تعالى بما لا يليق به اوسخر باسم من اسمائه الخ اونسبه الى الجهل او العجز او النقص (عالمگيرى مصرى موجبات الكفر ج۲ ص۲۵۸. ط. ماجديه ج۲ ص۲۵۸). ظفير

([3]) وارتداد احدهما فسخ عاجل (الدرالمحتار على هامش ردالمحتار باب نكاح الكافر ج۲ ص۵۳۹. ط. س. ج۳ ص۱۹۳). ظفير

القتل دي. (١) فقط

پير ته خداي ويل اوخداي ګڼل يې كفر دي: سوال: (۴۴) يو سړي پير ته سجده كوي او خداي ورته وايي او علماؤ ته ښكنځل كوي او دكعبې دافضل ګڼلو سره سره بل طرف ته نفل لولي او وايي چه زما علم صدري دي ددي الله تعالي ته هم پته نسته العياذ بالله، په دي الفاظو سره كفر لازميږي اوكه نه؟ چه كم عالم دا ووايي چه دتوحيد اقرار او درسالت اقرار قلبي كافي دي اګرچه په ژبه هر څنګه سخت لفظ دكفر ووايي په دي كفر نه لازميږي، ددي په نسبت شرعي حكم څه دي؟

جواب: بي شكه مذكوره اقوال او افعال دكفر اقوال او افعال دي پير ته خداي ويل اوګڼل او دشريعت توهين كول داسي امور دي چه ددي په كفر كيدوكي هيڅ شبه نسته (٢) او داسي مولوي چه پردغه امور كفري باندي هم ددي دقائل تكفير نه كوي ګمراه دي او دامامت او اقتداء لائق نه دي. فقط

ددين اسلام په باره كي بيهوده خبري كول صريح كفر دي: سوال: (۴۵) په نصير آباد كي مسلمانانو يو عام مذهبي تحريك وكی چه په هرقوم او ډله كي دشرابو څيښلو، خُمار كول او ډېري خريلو بنديز په عمل راوستل سو پنځه وخته لمونځ او جمع په پابندي سره ادا كوي دمړو په كفن اودفن كي شركت ضرور دي چه كم يو ددي څخه خلاف وكړي هغه به دخاندان څخه خارج وي با وجود ددي عمر ږيره وخريله قوم دي وغوښتی او پوښتنه يې ورڅخه وكړه نو عمر قوم ته په فحش كلام سره جواب وركړی او داسلام دمذهب په شان كي يې بيهوده او فحش وويل ددي وجي قوم دي دخاندان څخه خارج كی، شرعًا دداسي سړي دپاره څه حكم دي؟

جواب: ددين اسلام په باره كي بي هوده ګويی او فحش كلام صريح كفر دي (٣) نوداسي سړي چه اسلام ته بد ووايی او ددين اسلام توهين وكړي كافر دي او دي مسلمان نه دي ګڼل په كار او ترڅو پوري چه دي توبه ونه باسي ترهغه وخته پوري دي مسلمان نه دی ګڼل په كار او داسلام په خاندان كي يې داخلول نه دي په كار. فقط

قرآن شريف دتحقير دوجي غوږزول كفر دي: سوال: (۴۶) په يو زنانه او ددي په خاوند كي

---

(١) من انكر القيامة اوالجنة اوالنار الخ يكفر (عالمگيرى مصرى موجبات الكفر ج۲ ص۲۷۴. ط. ماجديه ج۲ ص۲۷۴). ظفير

(٢) ويخاف عليه الكفر اذا شتم عالمامن غير سبب (عالمگيرى ج۲ ص۲۷۰. ط. ماجديه. ج۲ ص۲۷۰). ظفير

(٣) رجل قال للاخر مسلمانم ثم قال له لعنت برتو وبر مسلمانى تو يكفر كذا فى الخلاصة (عالمگيرى مصرى ج۲ ص۲۵. ط. ماجديه ج ۲ ص۲۵۷). ظفير

جنجال راځي خاوند دیته خرچ خوراك نه ورکوي نه طلاق ورکوي او زنانه وهي ټکوي یو ځل زنانه دقرآن شریف تلاوت کوی ددې څخه یې قرآن شریف واخیستی او خاوند ورڅخه وغورزوی نو په دي حالت کي زنانه دخاوند دطلاق څخه بغیر دوهمه نکاح کولي سي او که نه؟

جواب: قرآن شریف غورزول دقرآن کریم سپکاوي دي او دا امر دکفر او ارتداد موجب دي لهذا په دي فعل سره دده بي بي دده دنکاح څخه خارجه سوه او دعدت څخه وروسته دویمه نکاح کولي سي. فقط

دالله تعالي په شان کي ګستاخي کوونکي کافردي: **سوال**: (۴۷) دپلار او زوی تر مینځ جنګ وسو پلار وویل ای باري خدایه زه انصاف تاته درکوم په دي باندي زوی وایي چه ستا او ستا دخداي سره بدفعلي وکړم والعیاذ بالله تعالي په دي وینا سره دي کافر سو او که نه؟ دده بي بي طلاقه سوه او که نه؟

جواب: په دي صورت کي دغه زوی کافر او مرتد سو او دده بي بي فوراً دده دنکاح څخه خارجه سوه.

که چیري یوسړي ووایي چه زه دشرعیه مسائلو څخه منحرف یم نو داکفر دي: **سوال**: (۴۸ الف) فتح محمد دخپلي مځکی قیمت نور محمد ته وربیع کړي دبیع په وخت یی قرآن شریف پورته کړی او دا عهد یې وکی چه الله او دهغه رسول ذمه وار دي او شاهد دي زه دهغه خلاف هیڅکله نه کوم تریوې مودي پوري دمشتري قبضه پرمځکو باندي پاته سوه ددي څخه وروسته بائع مځکه بل سړي ته وربیع کړه چه کله ده ته وویل سوه نو جواب یې ورکړی چه دبیع په وخت ما دوکه درکړه او قیمت مي وصول کړی او دقرآن شریف سره مي استهزاء وکړه او دشرعي مسائلو څخه اعراض کوونکي یم، دمذکوره سړي او دمځکو اوقیمت څه حکم دي؟

جواب: یو مسلمان ته دوکه ورکول او دهغه سره دبیع معامله کول او منحرف کیدل حرام دي او هغه سړي چه مرتکب ددي سو فاسق دي او دبیع نه ورکولو په صورت کي یې واپس کول پرده باندي لازم دي او که چیري ده صفا دا وویل چه په قرآن سره مي استهزاء کړي ده اودشرعي مسائلوڅخه منحرف یم نو داقول دده کفر اوارتداد دي العیاذ بالله. (۱)

دکفري کلماتوڅخه وروسته دنکاح تجدید ضروري دي: **سوال**: (۴۸ ب) دکفر کلماتو او دکفر

(۱) یکفر اذا وصف الله تعالی بما لایلیق به الخ (عالمگیری مصری موجبات الکفر ج۲ ص۳۵۷. ط. ماجدیه ج۲ ص۲۵۸). ظفیر

په افعالو سره بي بي طلاقيږي اوکه نه؟

جواب: په کفري کلماتو کي تجديد دنکاح ضروري دي. ([1])

دانبياء عليهم السلام په شان کي ښکنځلو کولو والا کافر دي: **سوال**: (۴۹) ما قولكم في من سبّ وشتم الانبياء عليهم السلام كلهم عامدا صريحًا وسب كتابًا فيه ذكرهم سبابًا قبيحًا فی جماعة من المسلمين وای الاحكام جارية عليه مع كونه مسلمًا؟

جواب: لاريب فی كفر من تفوه بهذا الكلام. ([2])

دقرآن مجيد توهين کول کفر دي: **سوال**: (۵۰) ديو سړي بي بي دقرآن شريف تلاوت کوی دي دبي بي څخه خفه سو دقرآن شريف بي ادبي يې په لاس او ژبي سره وکړه دي مسلمان پاته سو اوکه نه دده بي بي پرده حرامه سوه اوکه نه؟

جواب: دقرآن شريف توهين او سپکاوي کول کفر او ارتداد دي او کفر او ارتداد ديوه دزوجينو څخه دنکاح دفسخ کيدو موجب دي كما فی ردالمحتار قال فی المسايرة وبالجملة فقد ضم الی التصديق بالقلب او بالقلب واللسان فی تحقيق الايمان امور الاخلال بالايمان اتفاقا كسجود الصنم وقتل نبی والاستخفاف به وبالمصحف والكعبة ([3]). فقط

دکفر دکلمي څخه وروسته دنکاح تجديد ضروري دي: **سوال**: (۵۱) په هره کلمه دکفر سره تجديد دنکاح ضروري دي اوکه نه دنکاح دتجديد څه صورت دي؟

جواب: ضروري دي اودويمه نکاح په شان داولي نکاح دمهروغيره سره کول په کاردي. ([4])

دا ويل چه خداي مړ سو لمونځ دچا ادا کړو کفر دي: **سوال**: (۵۲) چه کم سړي تارك الصلوة وي او يو ځل دچيلم ډکولو قابل بنګي وڅيښي او علانيةً دا ووايي چه لمونځ دچا وکړم آيا خداي مړ سو والعياذ بالله تعالي دداسي خلقو سره سلوك وساتي او په واده کي جوړه او نذرانه دده څخه واخلي په دغه امام پسي لمونځ جائز دي اوکه نه؟ او دی يولسمه منع کوي شرعًا څه حکم دي؟

جواب: داسي سړي چه دلمانځه په باره کي داسي الفاظ وايي کافـــر دي ([5]) دده دجنازي

([1]) اذا انكر الرجل اية من القرآن اوسخر باية من القرآن اوعاب كفر (عالمگيری مصری ج۲ ص ۲۲۲. ط. ماجديه ج۲ ص۲۲۲). ظفير

([2]) سئل من يسب الی الانبياء الفواحش الخ قال يكفر لانه شتم لهم واستخفاف بهم (عالمگيری مصري ج۲ ص۳۲۳. ط. ماجديه ج۲ ص۲۲۳). ظفير

([3]) ردالمحتار باب المرتد ج۳ ص۳۹۲. ط. ماجديه ج۲ ص۲۲۲). ظفير

([4]) وينعقد النكاح بايجاب من احدهما وقبول من الاخر درمختار، كتاب النكاح. ط. س. ج۳ ص۹. ظفير

([5]) سئل عمن ينسب الی الانبياء الفواحش الخ قال يكفر لانه شتم لهم واستخفاف بهم (عالمگيری مصری =

لمونځ دي ادا نه کړل سي. او په واده وغیره کي دي يې شرکت ونه کړل سي اوکم امام چي دداسي سړي سره راشه درشه ساتي او جوړه او نذرانه اخلي فاسق دي په ده پسي لمونځ مکروه دي او چه ترڅو پوري يې توبه نه وي ايستلي امام جوړول دده حرام اومکروه دي او ديولسمی تخصيص بي شکه حقاني علماء بدعت او ناجائز ګڼي که چيري ايصال ثواب کول وي نو ديولسمی دقيد څخه بغير ديولسمی په يو تاريخ او ورځ دي خوراك وغيره فقيرانو ته په نيت دايصال ثواب ورو‌ح ته دحضرت غوث الثقلين رحمه الله ورکړي او مالدار دي ددې څخه نه خوري. فقط

يو څو هغه کلمات چه په هغو سره کفر لازميږي: **سوال**: (۵۳) چه کم سړي دا ووايي چه: (الف) روژه دوړو دپاره ده چه دچا غله نه وي هغه دي روژه ونيسي، (ب) زموږ مسجد زموږ غار دي خنزير په موږ پسي نه راځي (ج) شراب، مرداره، بنګي څوك حراموي دا خو پيغمبرانو ځينبلي دي موږ به يې هم ځينبنو او نه موږ توبه کوو (د) چه کم خلق موږ داحکام بالا څخه بندوي هغه خلق يزيدان دي موږ خلقو ددوی دچيليم اوبه بندي کړي دي داسي سيدان مسلمانان ګڼل اوتعظيم يې کول او امداد کول يې څنګه دي؟

جواب: دا اقوال دده دسخت معصيت دي چه دکفر بيره ده او دشرعي نصوصو خلاف دي په دوی باندي توبه ويستل لازم دي کنې مسلمانانو ته په کار دي چه ددوی سره تعلق پريکړي او ددوی په غم اوښادۍ کي دي شرکت نه کوي (ب) دا قول هم غلط او ښکاره ګمراهي ده او په دي کی دکفر بيره ده الله تعالي دي مو محفوظ وساتي (د) ديزيد په شان کارونه دده دي دوی چه څوك ددغه حرامو کارونو څخه نه منع کوي، بلکه منع کولو والا عين پرحق دي او دحرامو کارونو څخه منع کوي او دحرامو کارونو مرتکب فاسق اوفاجر دي نو داسي سيدان دشريعت نافرمان او ددين مخالف او فاسق او فاجر دي نوداسي سيدان چي دشريعت نافرمانه او ددين مخالف وي فاسق ګڼل په کار دي چه ترڅو پوري يې توبه نه وي ايستلي تر هغه وخته پوري دده سره تعلق نه دي ساتل په کار او دده تعظيم نه دي کول په کار او چه کم خلك دده سره دي ظالم او فاسق دي او پرګناه باندي مددګاران دي. [1]

دا ويل چه ترڅو پوري زما په جسم کي طاقت وي الله تعالي اورسول الله ﷺ هيڅ نه دي کفر دي: **سوال**: (۵۴) يو سړي په يوه خبره باندي دا الفاظ وويل چه ترکم وخته پوري زما په

= موجبات الکفر ج۲ ص۲۲۳. ط. ماجديه ج۲ ص۲۲۳). ظفير

([1]) سئل عمن ينسب الى الانبياء الفواحش الخ قال يكفر لانه شتم لهم واستخفاف بهم (عالمگيری مصری موجبات الکفر ج۲ ص۲۲۳. ط. ماجديه ج۲ ص۲۲۳). ظفير

بدن كي طاقت وي زه الله ﷻ او رسول الله ﷺ هيڅ نه ګڼم والعياذ بالله تعالي دداسي سړي دكور خوراك څښاك او دده سره ليدل جائز دي اوكه نه؟

جواب: دغه سړي كافر او مرتد دي دده سره ليدل اوخوراك، څښاك ناجائز دي مسلمانانو ته په كار دي چه دده څخه بالكل جدايي اختيار كړي چه تر څو پوري دي دايمان تجديد ونه كړي او توبه ونه كړي. ([1])

الله تعالي ته دچرګ اوسړي ويلو والا كافر دي: **سوال**: (۵۵) زيد وايي چه الله تعالي چرګ دي اوسړي دي نعوذ بالله تعالي نو كافر دي اوكه نه؟

جواب: كافر دي. ([2])

دمور اوپلار په شان كي او دالله تعالي په شان كي دګستاخۍ حكم: **سوال**: (۵۶) چه كم سړي خپل پلار ته دله، ديوث، كنجر، بي غيرته، بي حيا، او مور ته حرامزاده، ګښتۍ، بدچلنه، بدمعاشه، بدكاره وغيره كلمات ووايي او چه دالله تعالي دپاك نوم ذكر وكړل سي نو هغه الفاظ ادا كوي چه يو كافر مشرك يې هم نه ادا كوي دداسي سړي په نسبت دشريعت څه حكم دي؟

جواب: داسي سړي فاسق ظالم او دوالدينو څخه عاق دي او دالله تعالي په پاك شان كي يو لفظ دګستاخۍ ويل كفر او ارتداد دي ([3]) والعياذ بالله العظيم ولاحول ولا قوة الابالله العلي الحكيم.

دمعراج دواقعې، دقيامت وغيره منكر كافر دي: **سوال**: (۵۷) زيد داحكامو او دمعراج دواقعې څخه قطعاً انكار كوي (۱) زيد دقرآن شريف په احكامو پوري خندا كوي چه قرآن شريف دبيهوده خبرو څخه ډك دي (۲) زيد دخليفة المسلمين داحكامو داطاعت څخه انكار كوي او منصب دخلافت دمسلمان دپاره غير ضروري ګڼي (۳) زيد دقيامت څخه منكر دي يعني دنيا فنا كيدونكي نه ګڼي (۴) ددين دعلماؤ توهين كوي او ښكنځل كوي اوتحريك دترك موالات ذاتي اختراع دعلماءِ دين تسليموي، دده څه حكم دی؟

جواب: (د ۱ څخه تر۴ پوري) داسي سړي چه په سوالونو كي يې حالات ذكر سوي دي كافر اومرتد دي مسلمان نه دي داسي سړي مسلمان نه دي ګڼل په كار او دمسلمانانو په

([1]) ومن قال لا ادري ان النبي ﷺ كان انسيا او جنيا يكفر (عالمگيری مصری ج۲ ص۲۲۳. ط. ماجديه ج۲ ص۲۲۳). ظفير

([2]) يكفر اذا وصف الله تعالى بما لا يليق به الخ او نسبه الى الجهل اوالنقص (عالمگيری مصری ج۲ ص۲۵۸. ط. ماجديه ج۲ ص۲۵۸). ظفير

([3]) ايضا، ط. ج۲ ماجديه ۲۵۸. ظفير

شان معامله دده سره نه ده په کار. (۱)

دمیرزا غلام احمد قادياني اودده دتابعدارو په کفرکي شبه نسته: سوال: (۵۸) عموماً او خصوصاً مبايعين او مصدقين دميرزا غلام احمد قادياني اعتراض کوي چه ددينياتو په کتابونو کي دا مسئله ده چه که چيري په يو سړي کي يو کم سل ۹۹ وجوهات دکفر وليدل سي او يوه ۱ وجه داسلام پکښي وي نو هغه ته کافر نه سي ويل کيدی او په حديث کي ارشاد دي چه کلمه ويونکي اهل قبله ته کافر نه دي ويل په کار: عن انس رضی الله عنه انه قال قال رسول الله ﷺ من صلّی صلوتنا واستقبل قبلتنا واکل ذبيحتنا فذالك المسلم الذی له ذمة الله وذمة رسوله فلا تحقروا الله فی ذمته، دويم حديث دا دي: من قال لا اله الا الله دخل الجنة، او په رساله استنکاف المسلمين کي دميرزايانو دترك موالات په باره کي چه کمه فتوٰی علماء دين مفتي به پر ميرزا غلام احمد قادياني او دهغه پر معتقدينو او مبايعينو باندي دکفر لګولي ده هغه دروغ ګڼي او لاندي ليکل سوي آيتونه پيش کوی: ولا تنازعوا فتفشلوا وتذهب ريحکم، واعتصموا بحبل الله جميعاً ولا تفرقوا، او دميرزا دمسلمانيدو په ثبوت کي يوه پرچه هم چه پرهغې باندي ديو څو مبايعينو او مصدقينو دستخطونه دي پيش کوي چه ددې استفتاء سره ملګري ده، اوس علماء کرامو ته عرض دا دي چه درسول الله ﷺ ارشاد دي نو ميرزا او دهغه معتقدين هم اهل قبله اوکلمه ويونکي دي علماء دين پردوی باندي دکفر فتوي ولي لګوي او په منسلکه پرچه ددوی باندي اعتبار کول په کار دي اوکه نه؟ او چه کم سړي ميرزا او دهغه جماعت مسلمان ګڼي نو دده په نسبت څه حکم دي اوپه ده پسي لمونځ کول درست دي اوکه نه؟

جواب: ميرزا غلام احمد قادياني او دهغه دتابعدارو او مريدانو په کفر او ارتداد کي هيڅ شبه او تردد نسته په دوی کي يوه وجه هم داسلام باقي پاته نه ده ټول وجوهات دکفر او ارتداد دي ځکه چه په انبياء عليهم السلام کي ديوه پيغمبر توهين په اتفاق سره کفر دي او بدرد ويل انبياء عليهم السلام ته صريح ارتداد دي ددي څخه وروسته هيڅ وجه داسلام په دغه سړي کي نه پاته کيږي نه توحيد باقي پاته کيږي او نه اقرار درسالت او تفصيل ددي په کتابونو او رسالو کي موجود دي هغه ملاحظه کړی او دميرزا مذکور تمام کفريات او باطل عقائد علماؤ جمع کړي يو ځاي يې شائع کړي دي او چاپ کړي يې دي هغه وګوری او دا اشتهار چي تا داستفتاء سره ملګری را استولی دی بالکل صريح

(۱) اذا انکر الرجل آية من القران اوسخر باية من القرآن اوعاب کفر (عالمګيری مصری ج۲ ص۲۲۲) من انکر القيامة والجنة الخ يکفر (عالمګيری ج۲ ص۲۷۴. ط. ماجديه ج۲ ص۲۷۴). ظفير

دروغ دي په دې کي دميرزا کفر پټ کړل سوي دي هغه قابل اعتبار نه دي نوچه کم سړي مذکور ميرزا او دده تابعداران مسلمانان گڼي او دده دکفر اظهار ونه کړي هغه جاهل او گناهگار دي په ده پسي لمونځ درست نه دي، دی دي هيڅکله امام جوړ نه کړل سي. (۱)

دالله تعالي اورسول الله ﷺ اوددين اسلام منکر کافر دي: **سوال**: (۵۹) ديو سړي سره دعيد الاضحي دقرباني متعلق مشوره وکړل سوه هغه جواب ورکړی چه زه په دغه کارکي نه سم شريکيدي الله تعالي او رسول الله ﷺ او داسلام ددين څخه منکر هم يم باوجود ددي چه دغه مسلمان دروژو اولمانځه پابند دي ددي په نسبت څه حکم دي؟

جواب: چه کم سړي داسي کلمه دکفر وايي چه معاذ الله دغه سړي دالله تعالی او درسول الله ﷺ او دين داسلام څخه منکر دي نو هغه کافر دي او داسلام څخه خارج دي پرده لازم دي (۲) چه توبه وباسي او تجديد داسلام او تجديد دنکاح وکړي او آئنده داسي کلمه دژبي څخه ونه باسي. (۳)

چيچک يو ديو تصور کول او نذر ورته کول دشرکي امورو څخه دي: **سوال**: (۶۰) دچيچك په دوره کي خلك چيچك مرض نه تصور کوي بلکه يو ديو يې تصور کوي او ددي نوم هم په تعظيم سره اخلي اوهندواني ښځي راجمع کوي او دهغوی دمذهب موافق رسمونه ادا کوي او ددرياب پرغاړه باجې ږغوي او نذر اونياز دغير الله په نوم کوي چه کم خلق نارينه يا زنانه داسي قسم رسمونه کوي هغوی کافر او مرتد دي اوکه نه؟ او دوی دخپلو بيبيانوسره نکاح بيا وکړي اوکه نه؟

جواب: چه کم نارينه او زنانه داسي رسمونه ادا کوي هغوي فاسق اوگناهگار دي دوی ته توبه ايستل په کار دي اوپه کافر او مرتد ويلوکي دوی ته احتياط په کار دي که چيري دمذکوره رسمونو په شرکي رسمونو کيدو کي هيڅ خبره نه وي بيا هم په تکفير کي

---

(۱) والکافر بسبِّ نبی من الانبياء فانه يقتل حدا ولا تقبل توبته مطلقا الخ حق عبد لا يزول بالتوبة ومن شك فی عذابه اوکفره کفر وتمامه فی الدر (درمختار) اجمع المسلمون ان شاتمه کافر وحکمه القتل ومن شك فی عذابه وکفره کفر الخ وفيها من نقص مقام الرسالة بان سبه ﷺ اوبفعله بان بغضه بقلبه قتل حدا الخ لکن صرح فی آخر الشفاء بان حکمه کالمرتد (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب المرتد ج۳ ص۴۰۰ - ۴۰۱. ط. س. ج۴ ص۲۳۱). ظفير

(۲) من شك فی ايمانه فهو کافر الخ ومن لا يرضی من الايمان فهو کافر (عالمگيری مصری موجبات الکفر ج۲ ص۲۵۷. ط. ماجديه ج۲ ص۲۵۷). ظفير

(۳) مايکون کفر اتفاقا يبطل العمل والنکاح واولاده اولاد زنا وما فيه خلاف يؤمر بالاستغفار والتوبة وتجديد النکاح (درمختار) ذکر فی نور العين ويجدد بينهما النکاح ان رضيت زوجة بالعود اليه والا فلا تجبر قوله والتوبة ای تجديد الاسلام (ردالمحتار باب المرتد ج۳ ص۴۱۴. ط. س. ج۴ ص۲۴۲). ظفير

احتیاط کول بهتر دي ځکه چه فقهاؤ په دي باره کي داسي لیکلي دي اوپه تکفیر یی ډېر احتیاط کولو حکم کړي دي لیکن تجدید دنکاح احوط او بهتره دی اوترڅو یوري چه دغه خلګ دمذکوره امورو او شرکي رسمونو څخه توبه ګار سوي نه وي نو ترهغه وخته پوري ددوی څخه جدایی او مقاطعت مناسب دي. (۱)

په وید (دهندوانو کتاب) او قرآن کي چه څوک دفرق قائل نه وي: سوال: (۲۱) چه کم سړي په خپل یوداسي وعظ کي چي دقوم مسلم اونورو قومونو لکه هندوانو اجتماع وي مسلمانانو ته په مخاطب کیدلو ووایي چه په هندوانو او مسلمانانو کي هیڅ فرق نسته موږ په خپلو جاهلانه عقائدو سره په خپل مابینځ کي تفریق اچوو:

نہ جا جاہل کی باتوں پر اگر ذہن کا پکا ہے   اسی پتھر کا بت خانہ اسی پتھر کا مکہ ہے (۲)

نعوذ بالله من ذلك، اوپه اذان اوناقوس کي هیڅ فرق نسته او دهندوانو مذهبي کتاب ته دقرآن مجید سره تطابق ورکوي او وایي چي ددې دوو په حکمو هیڅ فرق نسته، په دي صورت کي شرعًا څه حکم دي؟

جواب: دا کلمات دکفر دي داسي عقائدو ساتلو والا او دداسي عقائدو تعلیم ورکولو والامسلمان نه دي کافر او مرتد دي دغه سړي دپیر جوړولو لائق نه دي (۳) او دي دعالم ویلو لائق نه دي بلکه فاسق او مبتدع بلکه کافر او مرتد دي مسلمانانو ته په کار دي چه دوی دي دده څخه ځان وساتي دده ددغه کفري کلماتو داوریدو څخه احتراز واجب دي.

نبي ﷺ ته دالوهیت درجه ورکول اواعتقاد ساتل کفر دي: سوال: (۲۲) چه کم سړي درسول الله ﷺ په شان کي داسي الفاظ ووایي چه دهغه څخه دشرك او بدعت بوي راځي دغه سړي څنګه دي مثلاً دا شعر ولولي:

قطرہ دریا میں گر کر فنا ہو گیا   بندہ وحدت میں جا کر خدا ہو گیا

الله تعالي دازل څخه واحد لاشریك وو لیکن وروسته هغه خپل مخامخ هنداره کښیښول

---

(۱) اعلم انه لایفتی بکفر الی ما امکن حمل کلامه علي محمل حسن اوکان فی کفره خلاف الخ وفی الدر وغیرها اذا کانت فی المسئلة وجوه توجب الکفر وواحد یمنعه فعلی المفتی المیل لما یمنعه (الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب المرتد ج۳ ص۳۹۹. ط س. ج۴ ص۲۲۹) وما فیه خلاف یؤمر بالاستغفار والتوبة وتجدید النکاح وظاهره انه امر احتیاط (ردالمحتار باب المرتد ج۳ ص۳۹۹. ط. س. ج۴ ص۲۳۵). ظفیر

(۲) دشعر ترجمه داده: دجاهل پر خبرو غوږ مه نیسه که دي ذهن پوخ وي، دهمدې ډبري څخه بت خانه ده او دهمدې ډبري څخه مکه جوړه ده. او حاصل دشعر دادي چي ګواکي په مکه مکرمه او – نعوذ بالله تعالی ثم نعوذ بالله – په بت خانه کي فرق نسته، چي دا قول صریح کفر دی. الله جل جلاله دي موږ وژغوري، آمین. حقاني

(۳) ومن اعتقد ان الایمان والکفر واحد فهو کافر ومن لایرضی من الایمان فهو کافر ومن یرضی یکفر نفسه فقد کفر (عالمګیری مصری موجبات الکفر ج۳ ص۲۵۷. ط. ماجدیه ج۲ ص۲۵۷). ظفیر

بیا دالله تعالي په شان یو بل پیدا سو، نستغفر الله !

جواب: داسي عقیده ساتل کفر دي او داسي شعرونه ویل حرام دي. ([1])

دلمونځ او روژې څخه منکر او علماؤ ته ښکنځل کولو والا کافر دي: **سوال**: (۲۳) زید وویل چه زه دلمونځ او روژی قائل نه یم او یوه فتوي دحرمت مصاهرت دده په مخکي پیش کړل سوه نو ده وویل چه زه دا نه منم علماؤ ته یې فحش ښکنځل وکړه او وی ویل چه علماء دروغجن دي او چه کم حرمت مفتي به وو هغه حلال ګڼي په دي صورتونو کي پرده باندي دتکفیر فتوي به وي اوکه نه؟ او دتکفیر په فتوي ورکولو باندي دده بي بي که چیري په تجدید دنکاح باندي په هیڅ طریقه راضي نه وي یا په وجه ددي چه دزید زوی دزید دبي بي سره ماسوا دزنا څخه ټول دواعي دزنا په شهوت سره کړي دي چه دهغه په وجه دا په فتوي دعلماؤ پرزید باندي حرامه سوي وي او تجدید دنکاح ونه کړي نو ددویم شخص سره به نکاح کول جائز وي اوکه نه؟

جواب: دزید دا کلمات خو دکفر دي ([2]) لیکن احتیاطا اودتاویل دګنجائش په سبب که څه هم ضعیف وي دزید تکفیر به نه سي کیدي کما حققه الفقهاء رحمهم الله، شامي اوچه کله دکفر او ارتداد حکم پرزید باندي نه جاري کیږي نو دده دبي بي نکاح به هم نه فسخ کیږي البته احتیاطا تجدید دایمان او تجدید دنکاح کول په کار دي او که چیري زنانه په تجدید دنکاح باندي راضي نه وي نو دتجدید دنکاح څخه بغیر هم دغه ښځه دزید بي بي ده دده دنکاح څخه خارجه نه سوه او په موجوده حالت کي ددوهم سړي سره نکاح ددي صحیح نه ده. ([3])

قادیاني او ددوی تابعداران کافران دي: **سوال**: (۲۴) دمیرزا غلام احمد قادیاني پیروکار مسلمانان دي که کافران؟ پر تقدیر ثاني که چیري پلار سُني حنفي وي او دده زوی قادیاني سوي وي نو دغه زوی به شرعًا دپلار وارث وي اوکه نه؟

جواب: قادیاني او دده تابعداران کافران دي او دامنصوص دي چه کافر دمسلمان وارث نه سي کیدي. ([4])

([1]) ذکر الحنفیة تصریحا بالتکفیر باعتقاد النبی ﷺ یعلم الغیب لمعارضة قوله تعالی: قل لایعلم من فی السموات والارض الغیب الا الله (شرح فقه اکبر ص۱۸۵). ظفیر

([2]) والاصل ان من اعتقد الحرام حلالا فان کان حراماً لغیره الخ لایکفر وان کان لعینه فان دلیله قطعیا کفر والا فلا وقیل التفصیل فی العالم اما الجاهل فلا یفرق بین الحرام لعینه ولغیره وانما الفرق فی حقه ان ماکان قطعیًا کفر به والا فلا یکفر اذا قال الخمر لیس بحرام (ردالمحتار باب المرتد ج۳ ص۳۹۳. ط. س. ج۴ ص۲۲۳). ظفیر

([3]) ان ما یکون کفرا اتفاقا یبطل العمل والنکاح وما فیه خلاف یؤمر بالاستغفار والتوبة وتجدید النکاح وظاهره انه امر احتیاط (ردالمحتار باب المرتد ج۳ ص۳۹۹. ط. س. ج۴ ص۲۴۲). ظفیر　=

داویل چه که ایمان ولاړی یا پاته سوتعزیه به جوړووو؟ سوال: (۲۵) دتعزیې پراعانت باندي يوڅوك مجبوره کول او دا ويل که ايمان ولاړی یا پاته سو دابه نه پرېږدم دا څنګه دي؟
جواب: دداسي کلماتو دقائل دايمان دزوال بيره ده. (۱)

پرخلفاء راشدینو او عائشه صدیقه رضي الله عنها باندي تهمت لګولو والاکافر دي: **سوال**: (۲۶) دخلفاء راشدينو او اهل بيت مطهره يعنی دعائشه صديقه رضي الله عنها په شان مبارك کي چه کم سړي سخت الفاظ يا ښکنځل يا بدرد وايي او تهمت لګوي نو دي داسلام په دائره کي دي اوکه نه؟
۲: دداسي سړي دلاس ذبحه صحيح ده او که نه او تعلقِ دوستانه او همدردي ورسره ساتل او خوراك خوړل وغيره جائز دي اوکه نه؟
۳: اوچه کم سړی دداسي سړي سره راشه درشه او تعلق ساتي نو دهغه سره تلعق ساتل جائزدي اوکه نه؟
جواب: (د ۱ څخه تر ۳ پوري) خلفاء راشدينو ته ښکنځل کولو والا هم ډيرو علماؤ او فقهاؤ کافر ګڼلي دي او بالخصوص پرعائشه صديقه رضي الله عنها باندي تهمت لګولو والا او دافك قائلينوته يې په اتفاق سره کافر ويلي دي ځکه چه په دي کی دقطعي نص څخه انکار دي. (۲) نو ددغه سړي ذبحه درسته نه ده او دده سره تعلق او محبت ساتل درست نه دي. اوچه کم سړي دده سره تعلق ساتي دي عاصي او فاسق دي توبه دي وکړي.

دجمعې لمانځه ته دشر اوفساد لمونځ ویل کفردي: **سوال**: (۲۷) که چيري يو سړي دسپکوالي دوجي ووايي چه دجمعی لمونځ دشر اوفساد لمونځ دي نو څه حکم دي؟
جواب: دا کلمه کفر دي او دغه سړی کافر او مرتد دي والعياذ بالله تعالي. (۳)

دا ویل چه موږ کافران یو څه حکم دي؟ سوال: (۲۸) يو لمونځ کوونکي يو بي نماز ته دلمونځ کولو دپاره وويل نو هغه دغه نصيحت کوونکي ته بد رد وويل او دا يې وويل چه موږ کافران يو دي کافر سو که نه؟ دده سره خوراك څښاك جائز دي اوکه نه؟

---

(۴) ودعوی النبوة بعد نبينا صلی الله عليه وسلم کفر بالاجماع (شرح فقه اکبر ص۲۰۲). ظفير
(۱) استحلال المعصية کفر (شرح فقه اکبر ص۱۹۹). ظفير
(۲) من سب الشيخين اوطعن فيهما کفر ولا تقبل توبته وهو المختار للفتوی (درمختار) نعم لا شك فی تکفير من قذف السيدة عائشة رضي الله عنها اوانکر صحبة الصديق اواعتقد الالوهية فی علی رضی الله تعالی عنه الخ (ردالمحتار باب المرتد ج۳ ص۴۰۴ – ۵۰۴. ط. س. ج۴ ص۲۳۷). ظفير
(۳) وکذا الاستهزاء علی الشريعة الغراء کفر لان ذلك من امارات تکذيب الانبياء (شرح فقه اکبر ص۱۸۷). نماز چيزی نيست او قال نماز چرا کنم مادر وپدر من مرده اند يکفر (عالمگيری مصری ج۲ ص۲۲۸. ط. ماجديه ج۲ ص۲۲۸). ظفير

جواب: چه کله دغه سړي دا کلمه وويله چه موږ کافران يو معاذ الله نو دغه سړی کافر سو نوکه چيري دي توبه او دايمان تجديد ونه کړي نو مسلمان دي دده په مرګ او ژوند کي نه شريکيږي. (۱)

دالله تعالي په شان کي ښکنځل کولو والا کافر دي: **سوال**: (۶۹) يو سړي مسلمان په خپل کارکي دنقصاني کيدو دوجي چه کله باران اوريږي او دده په کارکي نقصان راځي نو ددغه نقصان په وجه الله تعالي ته ښکنځل وکړي اوپه منع کولو سره هم واپس نه سي والعياذ بالله دداسي سړي دپاره شرعًا څه حکم دي؟

جواب: هغه سړي چه داسي ګستاخي وکړي کافر دي تجديد داسلام او تجديد دنکاح دده دپاره لازم دي. (۲)

ګواهانوګواهي ورکړه چه فلاني مرتد دي اومرتد انکار کوي څه حکم دي؟ **سوال**: (۷۰) زيد ديوي استفتاء په جواب کي دهنده او ددي دمعاونينو سره ټول تعلقات قطع کړي دي نو په دي باندي دمحلي مسلمانانو عمل درآمد شروع کړي وو اوس چه کله دهندي معاونين په دي مقاطعه باندي سخت ذليل او رسوا سول نو دوی په صحيح واقعاتو باندي پرده واچوله او دخپل براءت دپاره يې يو څو سوالات داستفتاء په صورت کي دبعضو علماء کرامو په خدمت کي وليږل علماء کرام چونکه دصحيح واقعاتو څخه قطعي بي خبره وه دسوالانو مطابق جواب يې وليکئ بيا مستفتي خپله دغه استفتاء سره دجواباتو دزيد په مخکي چه مخکي يې پرصحيح واقعاتو باندي دکفر فتوي ورکړي وه پيش کړه چه پرهغو باندي زيد بي تکلفه دستخط وکی ګواکي دغير واقعي سوالونو په وسيله يې باوجود دپوره علم کيدو پرضد بله عظيمه فتنه خپره کړه آيا دزيد رويه دشريعت په نزد څنګه ده زيد مسلمان دي که کافر يا فاسق؟ لمونځ په ده پسي څنګه دي؟

جواب: اصل دا دي چه مفتي او دده دمصدق په مخکی چه کمه واقعه پيش کړل سي هغه به دهغی موافق جواب ورکوي يا تصديق به يې کوي، نوچه کم سړي دکفر دموجباتو څخه انکار وکړی او ددغه امر اقرار وکړي چه ما په دغه حالت کي به هم دغه جواب ورکولي چه مذکوره سړي کافر نه دي فقهاؤ ترديِ پوري ليکلي دي که چيري په معتبرو ګواهانو سره ديو سړي مرتد کيدل معلوم سي ليکن هغه انکار وکړي چه ما دغه امور چه

---

(۱) ومن اعتقد ان الايمان والكفر واحد فهو كافر ومن لايرضى من الايمان فهو كافر (ايضا ج۲ ص۲۵۷). ظفير

(۲) والكافر بسب نبى من الانبياء فانه يقتل حدا ولا تقبل توبته مطلقا ولو سب الله تعالى يكفر اذا وصف الله تعالى بما لا يليق به اوسخر باسم من اسمائه الخ (عالمگيرى موجبات الكفر ج۲ ص۲۵۸. ط. ماجديه ج۲ ص۲۵۸). ظفير

موجب دارتداد دي نه دي کړي نو موافق دده دقول دی به پرينبودل کيږي او ده ته به هيڅ تعرض نه سي کيدي په درمختارکي دي: شهدوا على مسلم بالردة وهو منكر لا يعترض له لا لتكذيب الشهود العدول بل لان انكاره توبة ورجوع الخ (۱) ددي عبارت حاصل دا دي که چيري پريوه مسلمان باندي دعادلو ګواهانو په ګواهۍ سره کفر او ارتداد ثابت سو او هغه ددي څخه انکار وکړي نو ده ته به هيڅ تعرض نه سي کيدي نه ددي وجي څخه چه عادل ګواهان دروغجن وګڼل سوه بلکه ددي وجي څخه چه ددغه سړي انکار کول دا توبه ده او رجوع ده نو دمسائلو دبيان موافق چه کله يو عالم يوه فتوي وليکله او پردغه جواب باندي زيد دستخط وکی او دهغه تصديق يې وکی نو ددي حاصل دا دي چه ددي بيان موافق دا جواب صحيح دي نوپه دغه مذکوره معامله کي چه کمه فتوي دسهارنپور څخه دعدم تکفير ليکل سوي ده هغه هلته هم راغلي وه او پرهغې باندي ددي ځاي څخه ددغه الفاظو سره تصديق سويده چه کم خلق دغه مرتده زنانه ته دارتداد حکم کولو والا او ددي مددګار دي پردوی باندي دکفر فتوي بحاله ده او چه خلق په دي امرکي ددي مددګار نه دي او ددغي ښځي په ارتداد باندي راضي نه دي هغه کافر نه دي لهذا دزيد ددستخط کولو هم دامطلب دي او ددي وجي داحقر په رأي کي په دي باندي شرعًا هيڅ مواخذه نسته او لعن طعن کول پرزيد باندي ددي وجي ناروا دي ځکه اګر چه زيد ته علم وي چه فلاني سړی په دي امر کي شريك دی ليکن چه کله هغه ددي څخه انکار وکړي نو دصاحب ددرمختار دتصريح موافق ده ته به کافر نه سي ويل کيدی.

دلمانځه تحقير کفر دي: **سوال:** (۷۱۱۱) هندي دلمانځه په وخت کي دزيد دلورسره جنګ او جدال کاوه يوي بلې ښځي ورته وويل چه ای هندي چپ سه خلك لمونځونه کوي، هندي تحقيراً او تخفيفًا په جواب کي وويل چه لمونځ پرفرج او دفرج پروينبتانو، په دي صورت کي هنده کافره سوه اوکه نه؟

۲. داحد الزوجين په ارتداد سره نکاح فسخ کيږي: دزنانه دکفر په کلمه ويلو سره نکاح فسخ کيږي اوکه نه؟

۳. په کلمه دکفر سره سړی کافر کيږي: دکفر په کلمه ويلو سره سړی کافر کيږي اوکه نه؟

۴. مرتد چاته ويل کيږي؟ که چيري دکفر په کلمه ويلو سره کافر سو نوده ته به مرتد ويل کيږي که څه؟

جواب: ۱. دا کلمه دکفرده (۲).

---

(۱) الدرالمختار على هامش ردالمحتار باب المرتد ج۳ ص۴۱۳. ط. س. ج۴ ص۲۴۲. ظفير

(۲) لان مناط التكفير وهو التكذيب والاستخفاف عند ذلك (ردالمحتار باب المرتد ج۳ ص۳۹۲. ط. س. ج۴ =

۲: نکاح فسخ کيږي. (۱)
۳: دکفر په کلمه ويلو سره کافر کيږي.
۴: ده ته به مرتد ويل کيږي.

خنزير يې پرديو باندې نذر کړی دکفارې شکل به څه وي؟ **سوال:** (۷۲) زيد په انتهايي مهلك عارضه کي مبتلا سو او دبعضو دوينا څخه معلومه سوه چه يو دښمن په ده جادو کړي دي ده ته دخپل مرگ پوره يقين وسو دبعضي مشرکينو په اغوا سره دخنزير بچی يې را وغوښتی په ديو باندي يې نذر کړی خاندان دي جلا کړی ددې څه کفاره ده؟

جواب: شرعي کفاره دا ده چه دي استغفار وکړي اوتجديد داسلام وکړي او دشهادت کلمه ولولي او پرخپل کار باندي نادم او مستغفر سي. او آئنده داسي حرکت ونه کړي او وعده صادقه ده: وهوالذی يقبل التوبة عن عباده ويعفو عن السيئات ويعلم ما تفعلون، الايه.

أصحاب ثلاثه ته کافر ويلو والا کافر مرتد دي: **سوال:** (۷۳) اصحاب ثلثه ته چه کم څوك کافر ووايي دهغه امامت اوبيعت او دده سره خوراك څښناك جائز دي اوکه نه؟

جواب: مذکوره سړی کافر دي نو ددي وجي په شامي کي دي: نقل فی البزازيه عن الخلاصة ان الرافضی اذا کان يسب الشيخين ويلعنهما فهو کافر ج۳ ص۳۰۲، (۲) ددغه خلقو دتعليم او تلقين موافق عمل کول او دوی خپل امامان او مقتدا جوړول قطعًا ناجائز دي قال الله تعالی: ومن يبتغ غيرالاسلام دينًا فلن يقبل منه وهو فی الآخرة من الخاسرين (۳) او دداسي گمراه خلقو سره تعلقات پريکول ضروري دي: قال الله تعالی فلا تقعد بعد الذکری مع القوم الظالمين (۴) لهذا حتي الامکان ددوی سره دناستي ولاړي څخه ځان ساتل په کار دي. فقط

ټوله گناه دالله تعالي پرسر، دا دکفر کلمه ده: **سوال:** (۷۴) رحمان دمولوي احمد شاه څخه پوښتنه وکړه که چيري شاهدين ددروغ او ددښمنۍ شهادت ظاهر کړي څه حقيقت ضائع کړي چه دهغه په وجه ټول عمر حرام او گناهگاري زياته سي نو دتمام عمر گناه به دچا پرسر باندي پريوزي مولوي احمد شاه جواب ورکړی چه دا ټول گناه به دالله تعالي پرسر پريوزي، والعياذ بالله تعالي، په دي باره کي شرعي حکم څه دي؟

= ص۲۲۲). ظفير

(۱) وارتداد احدهما فسخ عاجل (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب نکاح الکافر ج ۲ ص ۵۳۹. ط. س. ج۳ ص ۱۹۳). ظفير

(۲) ردالمحتار باب المرتد ج۳ ص۴۰۵ . ط. س. ج۴ ص۲۳۷. ظفير

(۳) آل عمران : رکوع ۱۷. ظفير

(۴) الانعام : ۱۴. ظفير

جواب: مسئله داده که چیري ګواهانوپه ناحقه ګواهی ورکړه اوحاکم دوخت ددي ګواهانو دګواهي په وجه باندي په ناحقه دچا ملك بل چاته یعنی دروغجن مدعي ته یې ورکړی نو ګناه ددي پردغه ګواهانو باندي ده او پردغه مدعي باندي ده پرحاکم باندي هیڅ ګناه نسته کما ورد فی الحدیث مصرحا بانه فطعة من نار فی حق المدعی الکاذب وقال الله تعالی: واجتنبوا قول الزور حنفاء لله غیر مشرکین به (١) او دا مقولهٔ مذکوره دمولوي احمد شاه غلطه او صریح جهل دي او دکفر کلمه ده، والعیاذ بالله تعالي.

لمونځ ګذار کافر ګڼل: **سوال**: (٧٥) زید چه داسلام مدعي دي ددي امر قائل دي چه لمونځ لوستو والا کافر دي دعلماؤ دغلطی په وجه دا لمونځ ایجاد سوي دي کنه نو په شریعت کي هیچیري هم ددې نام اونښان هم نسته، دداسي سړي دپاره او چه کم خلق ددي هم خیاله وي ددوی دپاره شرعًا څه حکم دي؟

جواب: مذکوره سړی او دده داتباع اوهم عقیده خلقو په کفر او ارتداد کي څه شبهه او شك نسته (٢) ددوی سره معامله دکافرانو او مرتدینو په شان په کار ده اوپه اسلام باندي عاملین دي دوی دخپل جماعت څخه جلا کړي او ددوی سره دي هیڅ تعلق باقي نه ساتي. (٣) فقط

دخدایی دعوه کفر دي: **سوال**: (٧٦) یو سړي ما ته دري ځله دا لفظ ووایه چه زه ستا خداي یم والعیاذ بالله تعالي ددغه سړي متعلق څه فتوي ده؟

جواب: الله تعالي فرمایی: ومن یقل منهم انی اله من دونه فذالك نجزیه جهنم کذالك نجزی الظلمین (٤) ترجمه: او چه څوك ددوی څخه دا ووایي چه زه الله یم دالله تعالي څخه ماسوا پس دده سزا دوزخ دي موږ دغه رنګه ظالمانو ته سزا ورکوو، نو ددي آیت څخه واضحه ده چه مذکوره سړی کافر او ظالم دي که چیري دي توبه ونه باسي نو دده سره خوراك او څیښاك اوتعلق صحیح نه دي. فقط

دهندوانو په ذریعه نذر منل ګناه او فسق دي: **سوال**: (٧٧) یو مسلمان هلك ناروغ سو دده والدینو ستیلا ومنله یعني دیو بت نذر یی ومنی چه زما هلك ښه سو نو یو سرلی به نذرکوم دجوړیدو څخه وروسته یې یو سرلی دمنني دیوهندو په ذریعه بت ته یووړی پرې

---

(١) الحج: ١١. ظفیر
(٢) من جحد فرضا مجمعًا علیه کالصلوة والصوم والزکوة والغسل من الجنایة کفر (شرح فقه اکبر ص٢١٢). ظ
(٣) اذا انکر الرجل آیة من القرآن او سخر بایة من القرآن اوعاب کفر (عالمگیری موجبات الکفر ج٢ ص٢٦٦. ط. ماجدیه ج٢ ص٢٦٦) وکذا الاستهزاء علی الشریعة الغراء کفر (شرح فقه اکبر ص١٨٦). ظفیر
(٤) الانبیاء: ٢. ظفیر

کړل سو او دکلي په هندوانو خلقو کي تقسيم سو دهلك دوالدينو اسلام او نكاح باقي پاته سوه اوكه نه؟

جواب؟ دوی دواړه گناهگار او فاسق سول توبه اواستغفار دي ادا کړي او دنكاح تجديد كول ښه او احوط دي. (۱)

دا ويل چه په مصيبت كي ددنيا اوعاقبت هيڅ خيال نه كوم څه حكم دي؟ سوال: (۷۸) دزيد او بكر دواړو په خپلوكي جګړه وسوه زيد وويل زه به خودكشي وكړم او دي به قيد كړم عمرو زيد پوهه كی چه داسي مه كوه په عاقبت كي به سخته سزا دركول سي زيد وويل چه دغه وخت زه ددنيا اوآخرت هيڅ خيال نه كوم په دي كلمي سره زيد كافر سو اوكه نه؟

جواب: په دي كلمه كي دكفر بيره ده ليكن چونكه تاويل ممكن دي ددي وجي كافر به ورته نه ويل كيږي بهر حال تجديد داسلام او تجديد دنكاح بهتر دي. (۲)

زه عيسايي يم دا دكفركلمه ده: سوال: (۷۹) چه كم سړي دا ووايي چه زه عيسايي يم دده سره خوراك جائز دي كه نه؟ كه چيري چا په هيره خوراك ورسره وكی نو دده دپاره څه حكم دي؟

جواب: دغه سړي كافر سو دده سره خوراك څښاك ناجائز دي كه چيري په هيره يې ورسره وخوړل نوگناه نسته آئنده دي داسي نه كوي. (۳)

كلمه داسي لوستل لا اله الا الله ابوبكر، عثمان، وعلي محمد رسول الله؟ سوال: (۸۰) كه چيري يو سړي دكلمي طيبي سره دصحابه كرامو نومونه يوځای کړل او وی لوستل په داسي طريقه چه: لا اله الا الله ابوبكر، وعمر وعثمان وعلي ومحمد رسول الله نو دي به كافر وي كه گناهگار؟ كه چيري كافر نه وي نوكم خلك چه ده ته كافر وايي ددوی دپاره څه حكم دي؟

جواب: دفقهی په كتابونو كي تصريح ده كه چيري په يوه خبره وغيره كي يوكم سل وجي دكفر وي او يوه وجه داسلام وي اگر چه هغه ضعيفه وي نو مفتي ته په كار دي چه ددغه قائل داسلام طرفته مائل سي او باوجود دتاويل دامكان كيدو دمسلمان دتكفير طرفته تلواري نه ده پكار اودكفر فتوي نه دی وركول په كار بناءاً عليه مذكوره سړي ته كافر نه

(۱) وما فيه خلاف يؤمر بالاستغفار والتوبة وتجديد النكاح (الدرالمختار على هامش ردالمحتار باب المرتد ج۳ ص۴۱۴. ط. س. ج۴ ص۲۳۰). ظفير

(۲) اذا اطلق الرجل كلمة الكفر عمداً لكنه لم يعتقد الكفر قال بعض اصحابنا لايكفر الخ وقال بعضهم يكفر وهو الصحيح عندی لانه استخف بدينه (ردالمحتار باب المرتد ج۳ ص۳۹۳. ط. س. ج۴ ص۲۲۴). ظفير

(۳) ايضاً. ظفير

دي ویل په کار (١) لیکن دداسي وهمي کلام څخه چه په هغه کي دکفر خطره وي آئنده ځان ساتل په کار دي او احتیاط کول په کار دي او تاویل په دي کلام کي دا ممکن دي چه رسول الله صرف دمحمد جزء وي یعنی پوره کلمه داسي وي چه لا اله الا الله محمد رسول الله او ددي په مینځ کي دغه مذکوره سړي په خپل جهالت سره ابوبکر، عمر، عثمان، علي نومونه زيات کړل ګویا دا مطلب دي چه صحابه برحق خلفاء دي او ددوی دخلافت عقیده ساتل په کار دي بهر حال آئنده دداسي الفاظو څخه سخت احتراز کول په کار دي اوپه داسي کلام سره چه موهم دکفر وي کله هم تکلم نه دي کول په کار.

په مسجد کي متیازي وکړم دکفر کلمه ده: **سوال:** (٨١) یو سړي دمسجد متعلق دا الفاظ وویل چه مسجد څه زما خوابني ده او په مسجد کي متیازي وکړم او خنزیر پکښي حلال کړم او اور وغورزوم، والعیاذ بالله تعالیٰ، په دي صورت کي ددغه سړي دپاره څه حکم دي؟

جواب: دا کلمات ددغه سړي دکفر کلمات دي ده ته په کار دي چه توبه وباسي تجدید داسلام او تجدید دنکاح دي وکړي او چه ترڅو پوري توبه يې نه وی ایستلي دده سره دي تعلق پریکړي. (٢) فقط

په قرآن باندي متیازي وکړم دا دکفرکلمه ده: **سوال:** (٨٢) دزید او هنده تر مینځ تکرار وسو هندي وویل زه به قرآن را واخلم او بد دعا به وکړم زید وویل زه به ستا په قرآن باندي متیازي وکړم نعوذ بالله من ذالك په دي صورت کي څه حکم دي؟

جواب: په دي صورت کي زید کافر او مرتد سو (٣) او دده نکاح دده بي بي سره ماته سوه او فسخ سوه کما في الدر المختار وارتداد احدهما فسخ عاجل الخ (٤). فقط

دلمانځه توهین کول کفر دي: **سوال:** (٨٣) په یوم جمعه کي دجمعی دلمانځه څه تذکره وسوه یو امام غصه سو اووې ویل دوه رکعته به په دبره کي ورکوي که څلور؟په دي صورت

---

(١) وفی الخلاصة وغيرها اذا كان فی المسئلة وجوه توجب التكفير ووجه واحد يمنعه فعلى المفتی ان يميل الى الوجه الذی يمنع التكفير تحسيناً من ظن بالمسلم وفی التتارخانية لايكفر بالمحتمل لان الكفر نهاية فی العقوبة فيستدعی فيها فی جناية ومع الاحتمال لانهاية اهـ (ردالمحتار باب المرتد ج٣ ص٣٩٣. ط. س. ج۴ ص٢٣٥). ظفير

(٢) اذا اطلق الرجل كلمة الكفر عمدا لكنه لم يعتقد الكفر قال بعض اصحابنا لايكفر الخ وقال بعفهم يكفر وهو الصحيح عندی لانه استخف بدينه (ردالمحتار باب المرتد ج٣ ص٣٩٣. ط. س. ج۴ ص٢٢۴). ظفير

(٣) وبالجمله فقد ضم الى التصديق بالقلب اوبالقلب واللسان فی تحقق الايمان امور الاخلال بها اخلال بالايمان اتفاقا كسجود الصنم وقتل نبی واستخفاف به وبالمصحف والكعبة الخ (ردالمحتار باب المرتد ج٣ ص٣٩٢. ط. س. ج۴ ص٢٢٢). ظفير

(۴) الدرالمختار على هامش ردالمحتار باب نكاح الكافر ج٢ ص ٥٣٩. ط. س. ج ٣ ص١٩٣. ظفير

کي دده دپاره څه حکم دي؟

جواب: دا کلمه چه ده وویل دکفر کلمه ده ([1]) ده ته په کار دي چه توبه وباسي او تجدید داسلام اوتجدید دنکاح وکړي.

دکلام الله توهین کفر دي: **سوال**: (۸۴) یو سړي ته په یوه خبره باندي وویل سي چه قرآن شریف پورته کړه هغه ووایي چه زما په اله تناسل به یې پورته کړم (نعوذ بالله) نو پرده به څه حکم کول کیږي؟

جواب: دا دکفر کلمه ده ځکه چه دکلام الله توهین ددي څخه ظاهر دي او هغه کفر دي ([2]) لهذا تجدید دایمان اوتجدید دنکاح پرده لازم دی. فقط

دشریعت هیڅ پروا نه کوم دکفر کلمه ده: **سوال**: (۸۵) په یو مجلس کي څه کسان دیو متنازع امر دفیصلی دپاره راجمع سول ددوی څخه یو فریق دشریعت حقه توهین وکی او اعلانیه یې وویل چه موږ دجرګې دفیصلې په مقابله کي دشریعت هیڅ پروا نه کوو او موږ ته دداسي مسلمانی ضرورت نسته چه په هغه کي پابندي وي موږ دخاندان رواج دشریعت په مقابله کي مخکی ګڼو، آیا دداسي اعتقاد لرلو والا او دداسي الفاظو ویلو والا مسلمان پاته سو اوکه نه؟ تجدید داسلام او تجدید دنکاح کول په کاردی اوکه نه؟

جواب: دمذکوره الفاظو ویونکي سړي کافر سو ده لره تجدید داسلام، تجدید دنکاح او توبه او استغفار کول لازم دي او چه ترڅو پوري توبه اوتجدید داسلام وغیره ونه کړي ددوی سره لیده کاته کول درست نه دي. ([3])

زما مذهب اسلام نه دی، ددی قائل مرتد دي: **سوال**: (۸٦) یو سړی ددیني مسائلو څخه خبر دي او دلمونځ او روژې پابند دي لیکن کله چه ددي سکول اول مدرس سو او داسلام دمخالفینو دطرف څخه دا اعتراض وسو چه مسلمان ددي رتبې اوس مستحق نه دي ددي وجي چه تعداد ددوی پوره سوي دي، چه کله ده ولیدل چه دا رتبه زما څخه ځي نو ده لوړو حاکمانو ته دا درخواست وکی چه زه دمسلمانانو په تعداد کي نه یم زما مذهب اسلام نه دي، شرعًا دده دپاره څه حکم دي؟

([1]) اذا اطلق الرجل کلمة الکفر عمداً لکنه لم یعتقد الکفر قال بعض اصحابنا لایکفر الخ وقال بعضهم یکفر وهو الصحیح عندی لانه استخف بدینه والحاصل ان من تکلم بکلمة الکفر هازلا او لاعبا کفر عند الکل لا اعتبار باعتقاده مع امور الاخلال بها اخلال بالایمان اتفاقا کسجود صنم وقتل نبی والاستخفاف بها والمصحف الخ (ردالمحتار باب المرتد ج۳ ص۳۹۳ ط. س. ج۴ ص۲۲۴). ظفیر

([2]) وکذا الاستهزاء علی الشریعة الغراء کفر لان ذلك من امارات تکذیب الانبیاء (شرح فقه اکبر ص۱۸۷) اذاقال لو امرنی الله بکذا لم افعل فقد کفر (عالمګیری مصری ج۲ ص۲۵۸). ظفیر

([3]) ایضا. ظفیر

جواب: مذكوره حالت داسي حالت داضطرار او اكراه نه دي چه دهغه په وجه كلمه دكفر ويل او دخروج عن الاسلام اقرار كول درست سي. چه دغه سړي په: الامن اكره وقلبه مطمئن بالايمان، كي داخل سي او مسلمان پاته سي. بلكه دغه مذكوره سړی صرف ددي كلمي دوينا په وجه چه زما مذهب اسلام نه دي كافر سو پرده باندي تجديد داسلام لازم دي او توبه او استغفار ضروري دي چه دي بيا په اسلام كي داخل سي. او دمومنانو په جماعت كي داخل سي. (۱)

<u>غير الله ته تعظيمًا او عبادةً سجده كول شرک دي</u>: **سوال**: (۸۷) زيد دغير الله دپاره سجده تعظيمًا او عبادةً دواړو ته دحرام ويلو باوجود اول قسم سجده شرك نه ګڼي ليكن عمر دواړو قسمونو سجدو ته حرام او شرك وايي دچا قول صحيح دي؟

جواب: دغير الله دپاره سجده تعظيمًا او عبادةً كول حرام او كفر دي ځكه چه تعظيمًا سجده كول هم عبادةً سجده كول دي ددې وجي يې په درمختار كي سجده تعظيمًا او عبادةً دواړه كفر ليكلي دي او په دي كی اختلاف نسته او دا متفق عليه كفر دي البته خلاف په هغه سجده كي دي چه دسلام اوتحيه په طور وي يعني دسلام پرځاي سجده وكړل سي. په درمختار كي دي: وكذا تقبيل الارض بين يدى العلماء والعظماء فحرامٌ والفاعل والراضى به آثمان لانه يشبه عبادة الوثن وهل يكفر ان كان على وجه العبادة والتعظيم كفر وان كان على وجه التحية لا وصار آثمًا ومرتكبًا للكبيرة انتهى وفى الشامى (۲) وذكر الصدر الشهيد انه لا يكفر بهذه السجود لانه يريد به التحية وقال شمس الائمة السرخسي ان كان لغيرالله تعالى على وجه التعظيم كفر قال القهستانى وفى الظهيرة يكفر بالسجدة مطلقا الخ ج۵ ص۲۴۲، نومعلومه سوه چه اختلاف چه څه دي هغه په سجده دتحيه كي دي اوسجده دعبادت او دتعظيم په اتفاق سره كفر دي نوپه حقيقت كي دا دوه قسمونه نه دي ځكه چه سجده دعبادت او تعظيم فقهاء يو قسم شميري او ديته كفر وايي لهذا په دي كی دعمر قول صحيح دي البته په سجده تحيه كي اختلاف دي چه هغه كفر دي اوكه نه؟ او په حرام اوكبيره كيدو كي يې هيڅ اختلاف نسته (۳). فقط

<u>داحاديث نبويه توهين كفر دي</u>: **سوال**: (۸۸) ۱. داحاديـــث نبويه توهين كول ښكنځل ورته

---

(۱) من شك فى ايمانه الخ فهو كافر ومن اعتقد ان الايمان والكفر واحد فهو كافر ومن لا يرضى من الايمان فهو كافر ومن يرضى بكفر نفسه فقد كفر (عالمگيرى مصري ج۲ ص۲۵۷. ط. ماجديه ج۲ ص۲۵۷). ظفير

(۲) الدرالمختار على هامش ردالمحتار كتاب الحظر والاباحة ج۵ ص۲۳۷. ط. س. ج٦ ص۳۸۳. ظفير

(۳) وگورى ردالمحتار كتاب الحظر والاباحة ج۵ ص۳۰۸. ط. س. ج٦ ص۳۸۳. ظفير

کول ۲. لمونځ ګذارو ته دلمونځ ادا کولو په سبب ښکنځل کول ۳. خپل ځان ته ويل چه زه دراما شابيني په امت کي يم، څه حکم لري؟

جواب: داحاديث نبويه توهين کول او دا ويل چه زه دراما شابيني په امت کي يم کفر دي (۱) او لمونځ ګذارو ته ښکنځل کول حر ام او فسق دي. (۲) فقط

سيد که چيري ووايي چه لمونځ او روژه زما دپاره معاف دي نو مسلمان نه دي: سوال: (۸۹) او چه کم سيد بنګي نشه وغيره وڅښي او دا ووايي چه موږ ته لمونځ روژه ټول معاف دي داسي سړي مسلمان دي اوکه نه؟

جواب: چه کم خلق داسي وايي هغه مسلمانان نه دي په داسي کلماتو سره کفر لازميږي الله تعالي دي موږ محفوظ وساتي، آمين. (۳)

دالله تعالي په شان کي ښکنځل کفر دي: سوال: (۹۰) زما خاوند زيد که چيري ماته طلاق راکړي او دالله تعالي په پاك شان کي ډير زيات نازيبا الفاظ ووايي تر دي پوري لور ته ښکنځل وکړي وغيره وغيره نو په دي صورت کي شرعًا څه حکم دي؟

جواب: مذکور زيد که چيري واقعي دالله تعالي په پاك شان کي داسي الفاظ ووايي چه په سوال کي مذکور دي نو دي کافر سو (۴) اوکه چيري ده خپلي بي بي ته طلاق هم نه وي ورکړي بيا هم دده بي بي دده دنکاح څخه خارجه سوه او نکاح فسخ سوه کما في الدر لمختار وارتداد احدهما فسخ عاجل الخ (۵) نوپه دي صورت کي دزيد دزوجی سره اوسيدل او ددي سره دزوجيت تعلق ساتل درست نه دي. فقط

دنبي عليه السلام په شان کي دفحش کلماتو ويونکي مرتد دي: سوال: (۹۱) يو سړي دنبی ﷺ په شان مبارك کي انتهايي فحش کلمات وايي او دا هم وايي چه نعوذ بالله من ذالك چه دخنزير غوښه دجناب دښمنانو خوړلي ده وغيره وغيره، دداسي سړي په باره کي څه حکم دي؟

جواب:داسړي مرتد سوکه چيري ده تجديد داسلام اوتوبه ونه کړه نودده سره دي مسلمانان

---

(۱) من اهان الشريعة او المسائل التي لابد منها کفر (شرح فقه اکبر ص۲۲۵). ظفير

(۲) سباب المسلم فسوق وقتاله کفر (مشکوة باب حفظ اللسان). ظفير

(۳) من جحد فرضا مجمعا عليه کالصلوة والصوم والزکوة والغسل من الجنابة کفر (شرح فقه اکبر ص۲۱۲) من قال لا اصلی جحودا او استخفافا او على انه لم يؤمر اوليس بواجب فلا شك انه کفر فی الکل (ايضا ص۲۱۹).

(۴) والکافر بسب نبی من الانبياء فانه يقتل حدا ولا تقبل توبته مطلقا ولو سب الله تعالى قبلت لانه حق الله تعالى والاول حق عبد لايزول بالتوبة (الدر المختار على هامش ردالمحتار باب المرتد ج۳ ص۴۵۰. ط. س. ج۴ ص۲۳۱). ظفير

(۵) الدرالمختار على هامش ردالمحتار باب نکاح الکافر ج۲ ص۵۳۹. ط. س. ج۳ ص۱۹۳. ظفير

بالکل قطع تعلق او متارکت وکړي که چیري حکومت اسلامي وي نوده ته به سخته سزا ورکول کیږي لیکن اوس دقطع تعلق څخه ماسوا مسلمانان څه کولي سي ځکه چه حدود او تعزیر اسلامي مسلمان حاکم جاري کولي سي. [1]

چیری حدیث او قرآن داکلمه دکفر ده: سوال: (۹۲) یو سړي دبدعت څخه منع وکړه داوریدونکو څخه یو کس وویل چه میا صاحب دکم ځاي خبری او چیري دا حدیث او قرآن، دداسي ویونکي دپاره څه حکم دي؟ بینوا وتؤجروا !

جواب: داسي ویونکي ګناهګار او فاسق دي اوکه چیري استخفافا دی دقرآن او حدیث په نسبت داسي کلمه ووایي نو دا کفر دي [2] داسي سړي ته توبه کول په کار دي او احتیاطا تجدید داسلام اوتجدید دنکاح کول په کار دي لکه څنګه چه په شامي کي یې ددي تصریح فرمایلي ده. [3] فقط

داحد الزوجین په ارتداد سره نکاح فسخ کیږي: سوال: (۹۳) که چیري خاوند دکفر کلمه ووایي اوهغه په ثبوت ورسیږي نو دده زوجه به مطلقه بائنه وي اوکه نه؟ اوکه زوجه هم دکفر کلمه ووایي او دا هم ثبوت ته ورسیږي نو شرعًا ددي څه حکم دي؟ آیا نکاح به فسخ سي که به هغه په خپله مطلقه بائنه سي؟

جواب: په درمختار کي دي: وارتداد احدهما فسخ عاجل [4] نومعلومه سوه چه دمرتد کیدو په صورت کي دزوج یا زوجې فوراً په دوی کي نکاح فسخ کیږي. فقط

خپل ځان ته الله تعالي ویل، دقیامت، جنت او دوزخ څخه انکار کول کفر دي: سوال: (۹۴) چه کم مسلمان خپل ځان ته الله ووایي نعوذ بالله او قیامت بي بنیاده وګني جنت او دوزخ دا دنیا خیال کړي او دکفر اوشرك کلمات ووایي او دروغ قسمونه وخوري موږ ته دده سره څه سلوك کول په کار دي توبه دده مقبوله ده که نه؟ اوڅه کفاره به هم وي اوکه نه؟

جواب: دغه سړي مرتد اوکافر سو لیکن دخپلو باطلو خیالاتو اوفاسدو عقائدو څخه دي

---

[1] والکافر بسب نبی من الانبیاء فانه یقتل حدا ولا تقبل توبته الخ ومن شك فی عذابه وکفره کفر وتمامه فی الدر (درمختار) اجمع المسلمون ان شاتمه کافر وحکمه القتل (ردالمحتار) باب المرتد ج۳ ص۴۰۰. ط. س. ج۴ ص۲۳۱) لانه لا حدفی دارالحرب (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار کتاب الحدود ج۳ ص۱۹۵. ط. س. ج۴ ص۵). ظفیر

[2] امور الاخلال بها اخلال بالایمان کسجود صنم وقتل نبی والاستخفاف به وبالمصحف الخ (ردالمحتار باب المرتد ج۳ ص۳۹۲. ط. س. ج۴ ص۲۲۲). ظفیر

[3] ما یکون کفرا اتفاقا یبطل العمل والنکاح واولاده اولاد زنا وما فیه خلاف یؤمر بالاستغفار والتوبة وتجدید النکاح (درمختار) قوله التو بة ای تجدید الاسلام (ردالمحتار باب المرتد ج۳ ص۴۱۴. ط. س. ج۴ ص۲۴۲).

[4] الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب نکاح الکافر ج۳ ص۵۳۹. ط. س. ج۴ ص۱۹۳. ظفیر

توبه وکړي او تجدید داسلام دي وکړي نو توبه دده مقبوله ده اوبیا به دي مسلمان سي. اوبیا دده سره دمسلمانانو په شان معامله ساتل په کار دي اوهیڅ کفاره ددي نسته. ([1])

<u>په غصه کي ووايي که پيغمبر زاده راسي نو هم به کار ونه کړم</u>: سوال: (۹۵) زید دغصی په حالت کي دا وویل که چیري یو پیغمبرزاده هم راسي نو زه به دا کار ونه کړم لیکن دشریعت دسپکوالي په نظر سره یې ونه ویل بلکه دعقل دزائل کیدو په وجه یې وویل بیا چه کله فوراً اثبات دعقل وسو استغفار یې وکی نو شرعًا به مذکور سړي ته دارتداد حکم ورکول کیږي اوکه نه؟

جواب: قال فی الدرالمختار وشرائط صحتها العقل والصحو والطوع فلا تصح ردة مجنون ومعتوه وموسوس وصبی لا یعقل وسکران ومَکْرَهٌ علیها الخ نومعلومه سوه که چیري غضب داسي وو چه زید په دي کي مغلوب العقل او مسلوب العقل سو متماثل ددیوانه سو نو دارتداد حکم به پرده نه سي کیدي او بهر حال توبه او تجدید ذایمان لازم دي. فقط

<u>اوس کافر جوړ سوی یم او بحث کوم، دا دارتداد کلمه ده</u>: سوال: (۹٦) دهندوانو او مسلمانانو ترمینځ دمسجد او کوچني مندر دجګړې تصفیه دتحصیلدار په اجلاس کي کیده زید دهندو دتائید او خیرخواهی په لحاظ او دمسجد دبي حرمتی په غرض سره دا وویل چه دا وخت زه کافر جوړ سوي یم دهندوانو دطرفه بحث کوم وغیره. نو دزید دپاره څه حکم دي؟

جواب: په دي صورت کي زید کافر او مرتد سو او ټول اعمال دده برباد سول لکه څنګه چه الله تعالي فرمایلي دي: ومن یکفر بالایمان فقد حبط عمله وهو فی الاخرة من الخاسرین ([2]) نوپر زید باندي تجدید دایمان او تجدید دنکاح لازم دي او توبه اواستغفار لازم دي چه دسر څخه بیا مسلمان سي او داسلام احکام پرده جاري سي. فقط

<u>بي بي چه کله عیسایی سوه نو نکاح باقي پاته نه سوه</u>: سوال: (۹۷) دښځي اوخاوند ترمینځ تکرار وسو بي بي عیسایی سوه نکاح باقي پاته سوه اوکه نه؟

(۲) دوباره چه کله اسلام راوړي نو اول خاوند ته به رسیږي: که چیري بي بي بیا مسلمانه

([1]) من انکر القیامة او الجنة اوالنار اوالمیزان او الصراط اوالصحائف المکتوبة فیها اعمال العباد یکفر (عالمګیری مصري ج۲ ص۲۷۴. ط. ماجدیه ج۲ ص۲۷۴) من ارتد عرض الحاکم علیه الاسلام استحبابا علی المذهب لبلوغه الدعوة وتکشف شبهته ویجلس وجوبا وقیل ندبا ثلثة ایام یعرض علیه الاسلام فی کل یوم ان استهل الخ فان اسلم فبها والا قتل لحدیث من بدل دینه فاقتلوه (الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب المرتد ج۳ ص۳۹۴. ط. س. ج۴ ص۲۷۴). ظفیر

([2]) المائدة: ۵. ظفیر

سوه نو داول خاوند څه حق پاته سو اوکه نه؟

جواب: په دي صورت کي نکاح باقي پاته نه سوه.

۲: په بیا مسلمان کیدو باندي دغه ښځه به اول خاوند ته ورکول سي. یعني دغه بي بي به مجبوریږي چه داول خاوند سره نکاح وکړي په درمختار او شامي کي یې دا مسئله لیکلي ده. ([1])

<u>اولاد ته په کافر ویلو سره نکاح نه ماتیږي</u>: **سوال**: (۹۸) یوي ښځي خپل کم او کوچني عمر والا اولاد ته کافر وویل زوج ددي سره خبری اتری او دزوجیت حقوق پریښودل په دي غرض سره چه هسي نه زما بي بي زما دنکاح څخه خارجه سوي نه وي دا خیال صحیح دي اوکه څه حکم دي؟

جواب: په حدیث شریف کي دي: من قال لأخیه کافر فقد باء به احدهما او کما قال ﷺ ([2]) او داهم په حدیث کي وارد دي که چیري یو سړي بل سړي ته کافر ووایي اوهغه کافر نه وي نو دغه کفر دوینونکي طرفته واپس کیږي الحدیث، ددي حدیث معني دا بیان کړل سویده چه گناه دکافر ویلو پرده باندي واپس کیږي وفي اخر، په دي صورت کي دغه زنانه فاسقه سوه او نکاح نه ده ماته سوي نودغه سړي دي په سابقه دستور سره بي بي وساتي اوکه احتیاطاً تجدید دنکاح وکړي نو ښه دي لکه څنگه چه دظاهر حدیث مقتضي ده. فقط

<u>الله تعالي نه منم دکفر کلمه ده</u>: **سوال**: (۹۹) زید ددریو کسانو مخامخ دخپل خسر په دي وینا باندي چه ته نه لمونځ کوی اونه روژه نیسی (ستا سره خبری زما زړه نه غواړي) دا وویل چه زه الله تعالي نه منم زه خو عیسٰي مسیح علیه السلام منم والعیاذ بالله تعالي ددي کلمي په ویلو سره زید مرتد سو اوکه نه؟ او دده بي بي دده دنکاح څخه خارجه سوه که نه؟ او پردې باندي به دطلاق عده واجبه وي که دوفات عده؟

جواب: صرف ددي لفظ په وینا سره چه زه الله تعالي نه منم مذکوره سړي کافر او مرتد سو او دده بي بي دده دنکاح څخه خارجه سوه اودطلاق عده پرده لازمه سوه اوپه درمختارکي دي: وارتداد احدهما فسخ عاجل ([3]) الخ وایضًا فی باب العدة وهی فی حق حرة الخ املاق او فسخ بجمیع اسبابه الخ ثلثة حیض کوامل الخ. ([4]) فقط

([1]) وارتداد احدهما عاجل (الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب نکاح الکافر ج۲ ص۵۳۹. ط. س. ج۳ ص۱۹۳). ظ

([2]) ولا شيء لو ارتدت الخ تجبر علی الاسلام وعلی تجدید النکاح زجرا بمهر یسیر کدینار وعلیه الفتوی (ایضا ج۳ ص ۵۳۰. ط. س. ج۳ ص۱۹۴). ظفیر

([3]) الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب نکاح الکافر ج۲ ص۵۳۹ ط، س. ج۳ ص۱۹۳. ظفیر　=

ماته دالله تعالي ضرورت نسته دارتداد کلمه ده: **سوال:** (۱۰۰) یو واعظ یوې زناکارې ښځي ته نصیحت وکی چه دا زنا پریږده په دي نصیحت هغې ښځي جواب ورکړی چه ماته دالله تعالي ضرورت نسته او نه دالله دجنت شرعًا ددغې ښځي نکاح ماته سوه اوکه نه؟

جواب: پردي ښځه باندي حکم دکفر او ارتداد لاحق سو (۱) او نکاح ددي فسخ سوه دا دي توبه وباسي او تجدید داسلام دي وکړي او بیا دي نکاح وکړل سي. (۲) فقط

زه کافر سوم، دا دکفر کلمه ده: **سوال:** (۱۰۱) دزید او عمر ترمینځ دښمني را روانه وه زید ددي خبرې عهد وکی که چیري عمر دخپلي لور واده دزید دزوی سره وکړي نو زید به ددي خبرې قسم خوري چه هغه به کله هم دعمر دلور سره عداوت نه کوي او نه به تکلیف ورکوي نو زید قرآن شریف را پورته کړی او قسم یې وخوړی او دزید دزوی سره دعمر دلور عقد وسو زید دعقد څخه وروسته جګړې او فساد کوی او انجلۍ ته یې غیر معمولي تکلیف رسول شروع کړل عمر خپله خولۍ دزید پرقدمونو کي کښېښوده او دمعافۍ طلب ګار سو زید دوه ځله دا کلمه وویله که چیري الله تعالي دآسمان څخه راکښته سي او ماته ووایي بیا به یې هم معاف نه کړم عمر وویل چه دا کلمات دکفر ولي دژبي څخه باسې نو بیا زید وویل زه کافر سوم او دا یې هم وویل که چیري دعمر دکور پرطرف قبله سي نو زه به سجده ونه کړم په دي صورت کي دزید دپاره څه حکم دي؟ په زوجینو کي جدایي کیدي سي اوکه نه؟

جواب: زید چه دکفر کم کلمات وویل دهغو څخه دده کافرکیدل او مرتد کیدل ثابت سول (۳) ده ته دتجدید داسلام او تجدید دنکاح ضرورت دي او دده هلك چونکه خپلي بي بي ته نه خرچ اوخوراك ورکوي او نه طلاق ورکوي ددي وجي دبعضي ائمه ؤ دحکم په موجب شرعي قاضي باید دده څخه دبي بي دجدا کولو حکم وکړي او نکاح دي فسخ کړي دبلي نکاح اجازت به ورته ورکړي دا کار په یو اسلامي ریاست کي کیدي سي دهغه ځاي قاضي به تفریق وکړي. فقط

---

(۴) ایضا باب العدة ج۲ ص۸۲۵ – ۸۲۲. ط. س. ج۳ ص۵۰۴. ظفیر

(۱) لایکفر احد من اهل القبلة الا فیه نفی الصانع القادر العلیم اوشرك او انکار النبوة (شرح فقه اکبر ص۱۹۹).

(۲) وارتداد احدهما من الزوجین فسخ عاجل (الدرالمتختار علی هامش ردالمحتار باب نکاح الکافر ج۲ ص۵۳۹. ط. س. ج۳ ص۱۹۳). ظفیر

(۳) اذا اطلق الرجل کلمة الکفر عمدا لکنه لایعتقد الکفر الخ قال بعضهم یکفر وهو الصحیح عندی لانه استخف بدینه اه (ردالمحتار باب المرتد ج۳ ص۳۹۳. ط. س. ج۴ ص۲۲۴). ظفیر

کلام الله ته کلام انساني او په نورو کفري کلماتو ويلو سره مرتد سو: **سوال**: (۱۰۲) زيد مسلمان دکفر او شرك دکارونو مرتکب دي څه ورځي مخکې يې دمسلمانانو سره دبحث اوتکر ار په دوران کي کلام الله کلام انساني وبلی قرآن پاك يې وسوزوی توره ايره يې کړی او احاديث صحيحه يې دزړو کاغذونو په شان وسوزول او وی غورزول.
۲. هغه وايي چه دخنزير په غوښي او دبيزی په غوښه کي څه فرق نسته دغسی په خپله حقيقي مور او خپلي ښځي کي فرق نسته دمشرکانو پر بُتانو باندي نذرونه مني او دمشرکانو ذبيحه خوري.
۳. رام او رحمن دواړو ته يو وايي.
۴. مسلمانانو ته دا تلقين کوي چه لمونځ يو عبث کار دي، داسي سړي مسلمان دي که کافر که چيري دي مړ سي نو دده دجنازي لمونځ ادا کول او دمسلمانانو په قبرستان کي دفن کول جائز دي اوکه نه؟ زيد تر اوسه پوري په زنا کي مشغول وو اوس دزناکاری سره نکاح خوښوي شرعًا څه حکم دي؟
جواب: (۱ – ۴) داسي عقائدو ساتلو والا سړی کافر او مرتد دي (۱) که چيري دغه سړي بيا په اسلام کي داخليدل غواړي او دتيرو سوو عقيدو او افعالو څخه توبه وکړي نودي به مسلمان سي. دده نکاح دي فوراً دهغی زانيې سره وکړل سي. فقط

دمرتد کيدو څخه وروسته بيا مسلمانيدل: **سوال**: (۱۰۳) که چيري يو مسلمان مرتد سي او بيا اسلام راوړل غواړي نو ددي متعلق څه حکم دي؟
جواب: چه کم وخت هغه بيا مسلمان کيدل غواړي هغه به مسلمانيږي په اسلام کي هيڅ تنګي نسته او دالله تعالي رحمت وسيع دي دده شان دا دي چه :

باز آ باز آاز آنچه ہستی باز آ　　*گر ملحد وگبر وبت پرستی باز آ*
این درگہ مادرگہ نومیدی نیست　　*صد بار اگر توبہ شکستی باز آ*

دحضرت ابوبکر صديق رضي الله عنه دصحابيت منکر کافر دي: **سوال**: (۱۰۴) يو عالم وايي چه څوك دابوبکر صديق رضي الله عنه دخلافت او صحابيت څخه منکر سو دلعنت او دبراءت به مستحق وي، دي داسلام څخه خارج دي هيڅ قسم راشه درشه دده سره نه دي کول په کار بل سړي وايي چه دداسي شيعه سره تعلق درست دي، دی کلمه وايي لهذا داسلام څخه خارج کيدي نه سي په دي باره کي دچا قول صحيح دي؟

(۱) اذا اطلق الرجل کلمة الکفر لکنه لا يعتقد الکفر الخ قال بعضهم يکفر وهو الصحيح عندی لانه استخف بدينه (ردالمحتار باب المرتد ج۳ ص۳۹۳. ط. س. ج۴ ص۲۲۴). ظفير

جواب: په دي باره کي دعالم قول صحیح دي او دویم کس چه څه وایي هغه داسلام داصولو څخه پر ناواقفیت باندي مبني ده ده ته په کار دي چه ددي څخه توبه وباسي. (۱)

زما ایمان زما ترخپلي لاندي دي داکلمه دکفر ده: **سوال**: (۱۰۵) یو سړي چي لیکونکي او لوستونکي او وکیل دی باوجود دپوهني داسي قبیح کلمات په مجمع کثیر کي دخپلي ژبي څخه باسي چه زما ایمان زما ترخپلي لاندي دی نو شرعًا دده دپاره څه حکم دي؟

جواب: دا کلمه دکفر ده هغه سړي چا چه دا کلمه وویله کافر سو (۲) او دده بي بي دده دنکاح څخه خارجه سوه لکه څنګه چه په مختارکي دي: وارتداد احدهما فسخ عاجل (۳) نو ددغه سړي دپاره توبه کول او تجدید دایمان او تجدید دنکاح کول لازم دي. فقط

قادیانیان کافران دي اوپه روافضو کي تفصیل دي: **سوال**: (۱۰۶) یو مولوي صاحب دجمعي په ورځ دا فتوي بیان کړه چه شرعًا ټول افراد اهل شعیه او احمدي کافران دي اوچه کم سړی ددوی سره خوراك څیښاك وکړي یا ددوی سره په یو تقریب کي شمار سي کافر به متصور کیږي او بیا ددوی سره تعلق ساتونکي به هم کافر وي علي هذا القیاس دکفر سلسله جاري به وي او دټولو زنانو نکاح ناجائز او فسخ سویده چه کمي جینکی داهل سنت والجماعت دیو شعیه او احمدي سره واده سوي دي ددوی اولاد ولد الحرام دي هغه زنا کوي، آیا ټول افراد داهل شیعه کافران دي؟

۲: آیا داحمدي جماعت ټول افراد کافران دي موږ حنفیان یو او دجنس فرقه احمدیه افراد زموږ سره تعلق لري هغوی هیڅ یو مسلمان ته کافر نه وایي.

۳: آیا دټولو ښځو نکاحي ناجائز اوفسخ سوي دي چه داهل سنت والجماعت انجوني دي او دیو شعیه یا احمدي سره یې واده سوي دي او هغه دغه رنګه زنا کوي؟

۴: آیا دیو معزز شیعه یا احمدي اهل خاندان تعظیم کول کفر دي او بیا چه څوك دده سره سلوك وکړي یا ددوی په یو تقریب کي شریك سي هغه به هم کافر وي که ګناهګار؟

جواب: مرزا غلام احمد قادیاني او دده متبعین ټول په اتفاق دعلماءِ حق کافر او مرتد دي ددوی سره څه قسم اتحاد او ارتباط ساتل او واده کول ټول حرام دي اوپه روافضو کي دا تفصیل دي چه کمه فرقه ددوی دقطعیاتو څخه منکر دي او شیخینو ته بدرد وایي

---

(۱) نعم لاشك فی تکفیر من قذف السیدة عائشه رضی الله تعالی عنها اوانکر صحبة الصدیق الخ (ردالمحتار باب المرتد ج۲ ص۴۰۲. ط. س. ج۴ ص۲۳۷). ظفیر

(۲) وکذا مخالفة او انکارها اجمع علیه بعد العلم به لان ذلك دلیل علی ان التصدیق مفقود (ردالمحتار باب المرتد ج۳ ص۳۹۲. ط. س. ج۴ ص۲۲۲). ظفیر

(۳) الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب نکاح الکافر ج۲ ص۵۳۹. ط. س. ج۳ ص۱۹۳. ظفیر

او پرعائشه صديقه رضي الله عنها باندي تهمت لګوي يعني دافك معتقد دي او دصحابه ؤ رضي الله عنهم تكفير كوي دغه سړي هم كافر او مرتد دي [۱] ددوى سره مناكحت او مجالست حرام دي او واضحه ده چه روافض تبرا ويونكي وي اګرچه دتقنيې په وجه چه ددوى په نزد ديني فعل دي خپل ځان پټوي او خپل عقائد باطله پټ ساتی لهذا ددوى په قول اوفعل به اعتبار نه سي كيدي بلكي ددوى اصولي مذهب ته به كتل كيږي، نوددي تمهيد څخه وروسته ستاسو خپله دخپلو سوالانو جواب فهم كولي سئ.

(۱) اكثر افراد دشيعه ګانو داسي دي چه دهغوى پركفر باندي فتوي ده او داصول مذهب په اعتبار سره ددوى په كفر كي هيڅ تردد نسته لهذا ددوى په ذبيحه كي او ددوى سره په رشته او مناكحت قائم كولو كي دي احتياط وكړل سي او احتراز دي وكړل سي.

(۲ - ۳) قطعًا كافر او مرتد دى او داغلطه خبره ده چه دوى مسلمان ته كافر نه وايي ددوى دمذهب كتابونه وګورى چه ددوى عقيده دا ده چه كم سړى مرزا نبي نه مني هغه كافر دي او چه څوك دغه سړى كافر نه ګڼي هغه هم كافر دي.

(۴) دا حكم عام نه دي ليكن په معصيت او فسق كيدو كي ددي هيڅ خبره نسته او په حديث شريف كي دي: من وقر صاحب بدعة فقد اعان على هدم الاسلام [۲] نوچه كله دمبتدع تعظيم او توقير كول ګويا داسلام نړول دي نو دداسي ګمراه كافرو او مرتدو فرقو تعظيم او توقير به په كمه درجه كي معصيت وي. فقط

دكفر دكلمي اعلان وسو نو دتجديد به هم اعلان كوي: سوال: (۱۰۷) كه چيري په يوې كلمي سره كفر لازم سي په خپله نو آيا استئناف ايمان علي رؤوس الاشهاد ضروري دي؟

۱: او په استيناف ايمان سره حاصلي سوي نيكياني واپس راځي كه نه؟

۲: دايمان دتجديد ركن څه شي دي؟

جواب: كه چيري دكفر دكلمي اعلان سوي وي نو په تجديد كي اعلان كول په كار دي اوكه چيري دكفر كلمه دژبي څخه ووته او هيچا ته ددي خبر هم نسته نو په تجديد دايمان كي داعلان ضرورت نسته.

۲: مسئله دا ده: الساقط لا يعود وفيه اختلاف منقول فى الشامى فليراجع. [۳]

---

[۱] ودعوى النبوة بعد نبينا صلى الله عليه وسلم كفر بالاجماع (شرح فقه اكبر ص۲۰۲). ظفير

[۲] وبهذا ظهر ان الرافضى ان كان ممن يعتقد الالوهية فى علي او ان جبرئيل غلط فى الوحى اوكان ينكر صحبة الصديق او يقذف السيدة الصديقة فهو كافر لمخالفة القواطع المعلومة من الدين بالضرورة (ردالمحتار باب المحرمات ج۲ ص۳۹۸. ط س. ج۳ ص۴۶). ظفير

[۳] واسلامه اى المرتد ان يتبرأ عن الاديان سوى الاسلام اوعما انتقل اليه بعد نطقه بالشهادتين ولو اتى بهما على وجه العادة لم ينفعه ما لم يتبرأ (درمختار) انما هو شرط لاجراء احكام الدنيا عليه (ردالمحتار باب المرتد =

۳: چه کم رکن دایمان دي هم هغه دتجدید دایمان رکن دي.

دالله تعالي په شان کي دښکنځلو والا کافر او مرتد دي: **سوال**: (۱۰۸) زما خاوند زید ماته طلاق راکړی او دالله تعالي په پاك شان کي یې ډیر زیات نازیبا الفاظ وویل تردي پوري چه دلور ښکنځل یې ورته وکړل وغیره وغیره، نو په دي صورت کي شرعًا څه حکم دي؟

جواب: مذکور زید که چیري واقعي دالله تعالي په پاك شان کي داسي الفاظ ویلي وي چه په سوال کي دي نو دي کافر سو (۱) اوکه چیري ده خپلي بي بي ته طلاق هم نه وي ورکړي نوبیا هم دده بي بي دده دنکاح څخه خارجه سوه او نکاح فسخ سوه کما فی الدرالمختار: وارتداد احدهما فسخ عاجل الخ (۲) نوپه دي صورت کي دزید دزوجي دزید سره اوسیدل او ددي سره دزوجیت تعلق ساتل درست نه دي. فقط

تعظیمًا سجده غیر الله ته ناجائز ده: **سوال**: (۱۰۹) جناب چه غیر الله ته دتعظیمًا سجده کولو متعلق څه لیکلي دي هغه انتهایي تشفي بخش دي لیکن دا امر تر اوسه باقي دي که چیري یو سړی خپله غیر الله ته تعظیمًا سجده نه کوي بلکه تعظیمًا سجده کول په حرام ګڼلو سره وایي چه چونکه په خبر واحد: لو امرت احدًا ان یسجد لاحد لامرت المرأة ان تسجد لزوجها، کي یې منع راغلي ده، اودبل دلیل څخه سجدهٔ تعظیمي چه په مخکنیو شریعتونو کي کړل سوي وه دهغې منسوخ کیدل معلوم نه دي او ددي حدیث څخه هم دخبر واحد کیدو په حیثیت په ناسخ دکتاب کیدوکي شبه باقي پاته کیږي ددي حدیث څخه او دایت قرآني څخه چي: لا تسجدوا للشمس الایه، دی دوحدة دحکم په صورت کي که ثابت کیدي سي نو صرف دا چه سجده غیر الله ته کول حرام دي کفر نه ثابتیږي اوکه چیري تسلیم کړل سي چه سجده تعظیمًا کول کفر دي نو ددغه کفر انکار چه دقطعي نص څخه ثابت دي کفر به وي اوکه نه؟ اوپه داسي قسم منکر پسي لمونځ جائز دي اوکه نه؟

جواب: دیو قرآني حکم دمنسوخ کیدو معني چه کم وخت په ذهن کي کښیني نو دغه وخت به خود بخوده په پوهه کي راسي چه په حدیث سره قرآني حکم منسوخ کیدي سي. نو واضحه ده چه دمنسوخ معني دا ده چه دغه حکم ترفلاني وخت پوري یا تر فلانی زماني پوري وو او چونکه رسول الله ﷺ دقرآن معاني بیانونکي دي او ددوی بیان دیو حکم متعلق واجب العمل دي لکه څنګه چه خپله په قرآن پاك کي ارشاد دي: لِتُبَيِّنَ

= ج۳ ص۳۹. ط. س. ج۴ ص۲۲۲). ظفیر

(۱) ومن وصف الله تعالی بما لایلیق به اوسخر باسم من اسمائه الخ یکفر (شرح فقه اکبر ص۱۸۷). ظفیر

(۲) الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب نکاح الکافر ج۲ ص۵۳۹. ط. س. ج۳ ص۱۹۳). ظفیر

لِلنَّاسِ مَا نُزِّلَ اِلَيْهِمْ (ترجمه) چه تاسي تشريح وکړی خلقو ته دقرآن نازل سوي دمعني، نوچه کله دوی ديو قرآني حکم متعلق وفرمايي چه مذکوره حکم په فلانی زمانه کي وو او دمخکينو امتونو دپاره وو اوس هغه حکم نه دي نو دا امر دنص قرآني څخه ثابت دی چه ددوی دغه بيان واجب العمل دي لهذا حديث ناسخ دقرآن کيدي سي. خپله دقرآن شريف څخه ثابت دي او خبر واحد کيدل ددي مضر نه دي چه کله هغه صحيح حديث وي ځکه چه خبر واحد کيدل زموږ په اعتبار سوی دي کنه نوچه کمو خلقو دنبي عليه السلام څخه کم حکم واوريدی هغه نقل دقرآن دحکم واجب العمل دي. فقط

زيد پر بودايي مذ هب باندي دکيدو اعلان وکی نو کافر اومرتد سو: **سوال:** (۱۱۰) زيد مسلمان اعلانيةً بودايي مذهب اختيار کړی او خپله دمندر يو غړی دي دميونسپلټي او دګورنر دکونسل رأی ورکونکو دوه ۲ فهرستونه دي دمسلمانانو جلا او دکافرانو جلا دزيد نوم دکافرانو په فهرست کي دي پرخپلي بيروني دروازه باندي يې دبودا تصوير جوړ کړي دي ليکن ددې ټولو سره سره هر کال يولسمه او په دي کي ټولو مسلمانانو ته دعوت هم ورکوي نو زيد مسلمان دي که مرتد او دده دعوت ته تلل او خوړل دده حصه يا روپۍ او پيسی اخيستل جائز دي اوکه نه؟

جواب: چه کله زيد اعلانيةً پربودايي مذهب باندي دکيدو اعلان کړي دي او پرخپلي دروازې باندي يې دبودا تصوير هم قائم کی او ددي څخه وروسته يې ددغه مذهب څخه دتوبي اعلان ونه کړی او دخپل ځان دمسلمان کيدو اظهار يې ونه کړی نو دي کافر او مرتد دي ([1]) دده په هيڅ دعوت وغيره کي دمسلمانانو شريکيدل جائز نه دي او روپۍ دده څخه اخيستل درست نه دي او دده په کورکي په يوه جلسه، وعظ او مولود شريف کي شريکيدل جائز نه دي. فقط

تماشه کولو والا ووايي زه خداي يم، نو مرتد او کافر سو: **سوال:** (۱۱۱) تماشه کوونکي دتماشې په وخت خپل ځان ته نعوذ بالله خدای وايي او نورو ته دسجده کولو وينا کوي آيا دی مسلمان دي او دداسي تماشه کتونکو او شرکت او امداد کولو والا دپاره څه حکم دي؟

۲: بعضي خلق وايي چه چونکه په دغه تماشی کي دننه عبرت ښودل کيږي او ناحق ته شکست او حق ته فتح ددي نتيجه وي ددي دپاره څه حکم دي؟

([1]) ومن لا يرضى من الايمان فهو كافر ومن يرضى بكفر نفسه فقد كفر (عالمگيرى مصرى موجبات الكفر ج۲ ص۲۵۷. ط. س. ج۲ ص۲۵۷). المرتد هو شرعا الراجع عن دين الاسلام وركنها اجراء كلمة الكفر على اللسان بعد الايمان (الدر المختار على هامش ردالمحتار باب المرتد ج۳ ص۳۹۱. ط. س. ج۴ ص۲۲۱). ظفير

جواب: دا کفر او صریح ارتداد دي په دي کی دڅه تاویل ګنجائش نشته. (۱) قال الله تعالی: ومن یقل منهم انی اله من دونه فذالك نجزیه جهنَّم كذالك نجزی الظلمین. (۲)
۲: دا قول غلط او باطل تاویل دي. (۳)

دقرآن مجید توهین کفر دي: **سوال**: (۱۱۲) زید بکر ته په یوې دنیوي معامله کي دفیصلی دپاره وویل قرآن دقسم په طور پورته کړه نو زه به فیصله منظوره کړم لیکن بکر په باهمي تنازعاتو کي وویل چه زما ذَکَر یې هم نه سي پورته کولي (نعوذ بالله تعالی) بکر بل ځاي دداسي بي ادبانه الفاظو څخه توبه باسي اوس پربکر باندي څه شرعي تعزیر عائد کیږي؟

جواب: بکر په دي الفاظو سره مرتد اوکافر سو (۴) که چیري ده توبه او دتجدید ایمان کړي وي نو بیا دي مسلمان سو اوس داسلام راوړلو څخه وروسته پرده باندي هیڅ حد او تعزیر نسته او نکاح دده فسخ سوي وه ده لره دوباره نکاح کول په کار دي درمختار (۵) شامي.

دالله تعالي اورسول الله ﷺ په شان کي ګستاخي کفر دي: **سوال**: (۱۱۳) که چیري یوه ښځه پر خپل خاوند باندي غصه سي او دالله ﷻ او رسول ﷺ په شان مبارکه کي داهانت الفاظ ووایي نو دابنځه به داسلام څخه خارجه وي اوکه نه؟

جواب: مذکوره ښځي ته توبه ایستل په کار دي دتوبي څخه وروسته تجدید دنکاح هم ضروري دي.

دشریعت حکم نه منم دا دکفر کلمه ده: **سوال**: (۱۱۴) مسمي فرمان علي او مهدي خان په عام طور په مجلس کي دا وویل چه موږ دشرع شریفي حکم نه منو دداسي سړي دپاره څه

---

(۱) لا یکفر احد من اهل القبلة الا فیما فیه نفی الصانع القادر العلیم اوشرط انکار النبوة (شرح فقه اکبر ص۱۹۹) من هزل بلفظ کفر ارتد وان لم یعتقده للاستخفاف (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب المرتد ج۳ ص۳۹۴. ط. س. ج۴ ص۲۲۲). ظفیر
(۲) سورة الانبیاء. ظفیر
(۳) وفی البحر عن الجامع الاصغر اذا اطلق الرجل کلمة الکفر عمداً لکنه لم یعتقد الکفر قال بعض اصحابنا لایکفر لان الکفر یتعلق بالضمیر ولم یعتقد الضمیر علی الکفر وقال بعفهم یکفر وهو الصحیح عندی لانه استخف بدینه اهـ ثم قال فی البحر والحاصل ان من تکلم بکلمة الکفر هازلا او لاعبا کفر عند الکل ولا اعتبار لاعتقاده کما صرح به الخانیة (ردالمحتار باب المرتد ج۳ ص۳۹۳. ط. س. ج۴ ص۲۲۴). ظفیر
(۴) قال فی المسایرة وبالجملة فقد ضم الی التصدیق بالقلب او بالقلب واللسان فی تحقق الایمان امور الاخلال بها اخلال بالایمان کسجود لصنم وقتل نبی والاستخفاف به وبالمصحف الخ (ردالمحتار باب المرتد ج۳ ص۳۹۲. ط. س. ج۴ ص۲۲۲). ظفیر
(۵) من وصف الله تعالی بما لا یلیق به اوسخر باسم من اسمائه الخ یکفر (شرح فقه اکبر ص۱۸۷). ظفیر

حکم دي دده دجنازي لمونځ ادا کول او دده سره تعلقات ساتل څنګه دي؟
جواب: په دي کي شك نسته چه دا کلمه دکفر ده (۱) او داسي سړي ددي لايق نه دي چه دمسلمانانو په صف کي ده ته ځاي ورکړل سي. ديو مسلمان دپاره ددي څخه زيات بل څه جرم کيدي سي چه دشريعت اسلامي متعلق داسي توهين آميز الفاظ ووايي په حقيقت کي داسي بيباکي دهميشه ضلالت او دابدي هلاکت باعث جوړيږي، الله تعالي دي مسلمانان پرصراط مستقيم باندي قائم وساتي چونکه په صورت مسئوله کي مذکوره کلمه مجمله ده ددي وجي دداسي کلمه ويلو والا په کفر کي داحتياط ضرورت دي ديو مسلمان په خبره کي چه ترڅو پوري هم يو قابل قبول تاويل ممکن کيدي سي نو دده دکافر ګرځولو څخه زموږ دپاره حتراز کول په کار دي ولي چه دايمان اوکفر معامله ډيره نازکه ده، په بحر الرائق کي يې دخلاصې څخه نقل کړيدي: اذا كان فى المسئلة وجوه توجب التكفير ووجه واحد يمنع التكفير فعلى المفتى ان يميل الى الوجه الذى يمنع التكفير حسنا للظن بالمسلم وفى الفتاوى الصغرى الكفر شيء عظيم فلا اجعل المؤمن كافراً حتى وجدت رواية انه لا يكفر انتهى (۲) اوپه فتاوي قاضي خان کي دي: رجل قال لغيره صل المكتوبه فقال لا اصليها اليوم اختلفوا فيه ذكر الناطفى عن محمد انه قال قول الرجل لا اصلى يحتمل وجوهًا اربعة احدها لا اصلى فقد صليتها والثانى لا اصلى بقولك ففى هذه الوجوه لا يكفر والرابع لا اصلى وليس تجب عليَّ الصلوة ولم اومر بها يعنى جحودها يصير كافراً قال الناطفى فعلى هذا اذا اطلق وقال لا اصلى لا يكفر لان هذا اللفظ محتمل انتهى قوله (۳) وکذا هذا وفى الدر المختار لا يفتى بكفر مسلم امكن حمل كلامه على محمل حسن (۴) په شامي کي تردي قول لاتدي دي: ثم ان مقتضى كلامهم ايضا لا يكفر بشتم دين مسلم أي لا يحكم بكفره لامكان التاويل الخ (۵) غرض دا چي په دې ډول ډير عبارتونه دي چي پراحتياط باندي مفتي مجبوره کوي لهذا په صورت مسئوله کي دداسي سړي دجنازي لمونځ کول جائز دي البته چه ترڅو پوري دغه سړی دخپل کرتوت څخه توبه ګار سوي نه وي نو دده سره هيڅ قسم تعلق نه دي ساتل په کار چه په داسي حالت کي دده سره تعلق اوساتي هغه به ګناهګار وي بيره ده

(۱) من اهان الشريعة او المسائل التى لابد منها كفر (شرح فقه اكبر ص۳۱۵). ظفير
(۲) ردالمحتار باب المرتد ج۳ ص۳۹۳. ط. س. ج۴ ص۲۲۸. ظفير
(۳) ردالمحتار باب المرتد ج۳ ص۳۹۳. ط. س. ج۴ ص۲۲۸. ظفير
(۴) فتاوى قاضى خان باب ما يكون كفرا من المسلم وما لا يكون ج۳ ص۵۹۷. ظفير
(۵) الدرالمختار على هامش ردالمحتار باب المرتد ج۳ ص۳۹۹، ط. س. ج۴ ص۳۳۹. ظفير

چه هسي نه دده شمار هم ددغه سړي سره ونه کړل سي او نه ديوې مسلماني دده سره په داسي حالت کي نکاح وکړل سي. دنکاح په معامله کي انتهايي داحتياط ضرورت دي. فقط

داحد الزوجين په ارتداد سره نکاح ماتيږي: **سوال**: (۱۱۵) هغه جينۍ چي قادياني مذهب يې اختيار کړي دی اوخپله نکاح يې ديو احمدي سره کړي ده که چيري بيا مسلمانه کړل سي نو ددي نکاح به هم ماته سي اوکه نه؟

(۲) **احمدي ښځه اوخاوند يو ځای مسلمانان سول نونکاح باقي پاته کيږي**: **سوال**: (۱۱۶) که چيري دوه احمدي کسان مسلمانان سي نو ددوی دنکاح متعلق څه حکم دی؟

جواب: (۱) په دي صورت کي ددې نکاح دقادياني سړي سره ماتيږي ځکه چه قادياني مرتد دي اوداحد الزوجين ارتداد دنکاح منافي دي، په درمختار کي دي: وفسد ان اسلم احدهما قبل الاخر (۱) په بحر الرائق کي دي: لان ردة بالاخر منافية للنکاح ابتداءً فکذا بقاءً الخ وقال به يعدم حکم البينونة باسلام احدهما فقط بالاولى (۲). فقط

۲: که چيري دواړه يو ځاي مسلمانان سوي وي نو ددوی نکاح باقي پرخپل حال ده که نه نوفسخ به سي. (۳) فقط

په زوجينو کي ديوه په ارتداد سره نکاح فسخ کيږي: **سوال**: (۱۱۷) زيد يوه هندوه ښځه مسلمانه کړه ده په خپله ورسره نکاح وکړه تر لسو کلو پوري دده سره اوسيده ليکن اوس آريايانو دا دوکه کړه مرتد يې کړه او په عدالت کي يې دنکاح کولو څخه ورباندي انکار وکی دنکاح ګواه او وکيل موجود دي قاضي هم منکر دي او رجسټر نه ښکاره کوي په دي صورت کي څه حکم دي؟

جواب: په شريعت اسلامي کي په دوو ګواهانو سره دنکاح ثبوت کيږي ليکن ددغه زنانه دمرتد کيدو څخه وروسته نکاح فسخ سوه لکه څنګه چه په درمختار کي دي: وارتداد احدهما فسخ عاجل (۴). فقط

دقرآن په نسبت دتوهين کلمات کفر دي: **سوال**: (۱۱۸) کمال الدين جلد ساز په مجمع اهل اسلام کي دا کلمات وويل چه زه قرآن شريف هيڅ شی نه ګڼم زه په قـــرآن شريف اور

(۱) ردالمحتار للشامی باب المرتد ج۳ ص۳۹۹. ظفير

(۲) الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب نکاح الکافر ج۲ ص۵۴۱. ط. س. ج۳ ص۱۹۲. ظفير

(۳) وبقی النکاح ان ارتدا معا بان لم يعلم السبق فيجعل کالغرق ثم اسلما کذلك استحسانا وفسد ان اسلم احدهما قبل الاخر (درمختار) قوله کذالك بان لم يعلم السبق (ردالمحتار باب نکاح الکافر ج۳ ص۵۴۱. ط. س. ج۳ ص۱۹۲). ظفير

(۴) الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب نکاح الکافر ج۲ ص۵۳۹. ظفير

لګوم دیو څو کسانو شهادتونه ورسره دراستوو، دداسي سړي دپاره شرعًا څه حکم دی؟
جواب: دقرآن شریف په نسبت دتوهین کلمات ویل کفر دی (۱) لیکن که چیري جمال الدین انکار کوي نو دغه انکار به دده توبه ګڼل کیږي اودي به مسلمان سي. او تعلق به ورسره ساتل کیږي اوکه چیري هغه سړي دتوبه، استغفار او تجدید دایمان څخه انکار وکړي نو بیا به دده سره تعلق پرې کړل سي. فقط

زه شریعت نه منم دا دکفر کلمه ده: **سوال**: (۱۱۹) زید دیوې وجهي څخه خپل سرای خپل زوی عمرو ته هبه کړی او دعمرو څخه علاوه دزید دري هلکان دوې انجوني نوری موجودي دي اوسب زید غواړي چه په خپل ژوند کي په ټولو باندي دا سرای تقسیم کړي عمرو وایي چه زه شریعت نه منم نوعمرو داسلام څخه خارج سو او که نه؟ او نکاح ماته سوه اوکه نه؟
جواب: عمرو ددغه قول په وجه داسلام څخه خارج سو او دده بي بي دده دنکاح څخه خارجه سوه داسلام راوړلو څخه وروسته به تجدید دنکاح کول کیږي. (۲) فقط

خپل ځان ته خدای او رسول ویلو والا کافر، مرتد او ملحد دی: **سوال**: (۱۲۰) یحیي خان په یو جادره کي مقیم دي مخکی دی مهدي موعود وو بیا یې دمسیح موعود کیدو دعوي وکړه او ددي څخه وروسته رسول جوړ سو او دخپل نوم کلمه یې جوړه کړه لا اله الا الله یحي عین الله او خپل ځان ته عین الله وایي او یوکتاب یی لیکلی دي چه دهغه نوم یې (فرمان) مقابل دقران اینبی دي او خپل ځان ته فرمان روا وایی او اوس دالله کیدو دعوي کوي آیت قراني کم او زیات کوي او لولي یې او وایی چه په قران کي غلطي ده الخ او الله تعالي ته لهو او لعب کولو والا وایي نعوذ بالله، دیحیٰی خان دپاره څه حکم دی؟ او چه کم مسلمان دي واجب التعظیم وګڼي او دده داقوالو تصدیق وکړي او دده اعانت وکړي او دده سره خوراك او څیښاك وکړي دده دپاره څه حکم دي؟
جواب: دیحیٰی خان مذکور مرتد کیدل دده داقوالو څخه ثابت او محقق دي (۳) دده سره دمسلمانانو لیدل او دده سره محبت او اعانت کول حرام دي او چه کم سړي دي بزرګ او واجب التعظیم وګڼي او دده تصدیق وکړي هغه هم کافر دي په دې کي هیڅ شك نسته

---

(۱) ایضا. ظفیر
(۲) اذا انظر الرجل آیة من القرآن او سخر بآیة من القرآن اوعاب کفر (عالمګیری مصری ج۲ ص۲۲۲. ط. ماجدیه ج۲ ص۲۲۲). ظفیر
(۳) ودعوی النبوة بعد نبینا ﷺ کفر بالاجماع (شرح فقه اکبر ص۲۰۲) اذا انکر الرجل آیة من القرآن الخ او عاب کفر (عالمګیري مصري ج۲ ص۲۲۲. ط. ماجدیه ج۲ ص۲۲۲). ظفیر

قال الله تعالى: ما كان محمد ابا احد من رجالكم ولكن رسول الله وخاتم النبيين، الايه (۱) وقال الله تعالى: ومن يقل منهم انى اله من دونه فذالك نجزيه جهنم كذالك نجزي الظلمين. (۲) فقط

دقرآن دیوه آیت په تحقیر سره دکفر بیره ده: سوال: (۱۲۱) زید پرمنبر باندي وعظ وکی عمرو ډیر غصه سو دي یې دمنبر څخه کښته را وغورزوی او وې وهی زید آیت کریمه ولوستی عمرو وویل دا آیت قرآني خپلي بي بي ته ووایه زه یې نه منم دعمرو دپاره څه حکم دي؟

جواب: دعمرو دا فعل انتهایي قبیح دي او دآیت قرآني په نسبت په داسي الفاظو ویلو سره دکفر بیره ده ته توبه ایستل په کار دي. فقط

غالي شیعه داسلام څخه خارج دي: سوال: (۱۲۲) یو عالم وایي چه څوك دابوبکر صدیق رضي الله عنه دصحابیت او خلافت څخه منکر وي او مستحق دلعنت او براءت یې مني هغه داسلام څخه خارج دي هیڅ قسم تعلق به دده سره نه سي کیدي دویم کس وایي چه دداسي شیعه سره تعلق درست دي دي کلمه لولي لهذا داسلام څخه خارج کیدي نه سي. په دي باره کي دچا قول صحیح دي؟

جواب: په دي کي دعالم قول صحیح دي (۳) او بل سړي چه څه وایي هغه داصولِ اسلام څخه پر ناواقفیت باندي مبني دي ده لره په کاردي چه ددي څخه توبه وباسي. فقط

دشریعت په مقابله کي رواج منل کفر دي: سوال: (۱۲۳) چه کم سړي دا ووایي چه زه فیصله دشریعت موافق نه کوم بلکه درواج موافق فیصله کوم دده دپاره څه حکم دي؟

جواب: دا کلمه دکفر ده او ددین سپکاوي دي ددي څخه توبه ایستل په کار دي.

شریعت نه منم دکفر کلمه ده: سوال: (۱۲۴) زید دخپل مسجد امام بغیر دحکم شرعي دامامت څخه جلا کړی په پوهه کولو باندي یې دا جواب ورکړی چه که چیري شریعت هم دا امام ومني بیا هم زه دي امام نه منم، دزید دا وینا کفر ده اوکه نه؟ او زید لره تجدید دنکاح کول په کار دي اوکه نه صرف توبه کافي ده؟ یو عالم دا فتوي ورکړه چه زید ترڅو پوري توبه او تجدید دنکاح ونه کړي دده سره قطع تعلق په کار دي په دي باندي زید

---

(۱) سورة الاحزاب. ظفير

(۲) اذا انكر الرجل اية من القر ن اوسخر باية من القرآن اوعاب كفر (عالمگيرى مصرى ج۲ ص۲۶۲. ط. ماجديه ج۲ ص۲۶۲). ظفير

(۳) ولو انكر احد خلافة الشيخين يكفر (شرح فقه اكبر ص۲۰۰) نعم لا شك فى تكفير من قذف السيدة عائشة اوانكر صحبة الصديق (ردالمحتار باب المرتد ج۳ ص۴۰۵ - ۴۰۲، ط. س. ج۴ ص۲۳۷). ظفير

مذکور عالم مذکور ته دعامو خلګو په مخکي ښکنځل وکړل او سخت یې بې عزته کی، آیا فتوٰی دعالم درسته وه بهر حال دزید دپاره څه حکم دي توبه کافي ده اوکه به دعالم څخه معافي هم غواړي؟

جواب: په دي کی شك نسته چه دا دکفر کلمه ده او ددین محمدي ﷺ سپکاوي دي او همدا وجه ده چه ډیرو علماؤ پر داسي بي باکه او شریعت دماشومانو دټوکو اولوبو شی ګڼلو والاوو باندي بلا تأمّل دکفر فتوي لګولي ده مګر ددي وجي څخه چه داسلام او دکفر معامله بي حده نازکه ده فقهاؤ په دي کی دډیر زیات احتیاط څخه کار اخیستی دي او فرمایلي یې دي چه ترڅو پوري دیوه مسلمان په خبره کي قابل قبول تاویل کیدي سي او دده خبره پریوه ښائسته محمل باندي حمل کیدي سي نو ترهغه وخته پوري به دده په کفرکي احتیاط کول کیږي. نوچونکه دمذکوره سړي کلام دتاویل احتمال لري او ویل کیدی سي چه دده مراد شریعت ته بدرد ویل نه دي بلکه دهغه خاص سړي بدي مقصود ده ددي وجي ده ته په کافر ویلو کي داحتیاط ضرورت دي په درمختارکي دي: واعلم انه لا یفتی بکفر دین مسلم امکن حمل کلامه علی محمول حسن او کان فی کفره خلاف ولو کان ذالك روایةً ضعیفةً الخ ([1]) بیا په شامي کي دي: ثم ان مقتضی کلامهم ایضا انه لا یکفر بشتم دین مسلم انه لا یحکم بکفره لامکان التاویل ثم رأیته فی جامع الفصولین حیث قال بعد کلام اقول وعلی هذا ان یکفر من شتم دین مسلم ولکن یمکن التاویل بان مراده اخلاقه الردیة ومعاملته القبیحة لا حقیقة دین الاسلام فینبغی ان لا یکفر الخ ([2]) شامی مطبوعه مصر ج۳ ص۳۸۹، وقال فی البحر بعد کلام طویل والذی تحرر انه لا یفتی تکفیر مسلم امکن حمل کلامهم علی محتمل حسن الخ ثم قال ولقد الزمت نفسی ان لا افتی بشيء منها الخ ([3]) بحر الرائق ج۵ ص۱۳۵ مطبوعه مصر، وفی الخلاصة وغیرها اذا کان فی المسألة وجوه توجب التکفیر ووجه واحد یمنع التکفیر فعلی المفتی ان یمیل الی الذی یمنع التکفیر تحسینًا للظن بالمسلم وزاد فی البزازیة الا اذا صرح بارادة موجب الکفر فلا ینفعه التاویل ([4]) حینئذ انتهی. نقله فی البحر، بهر حال ده ته توبه ایستل په کاردي او احتیاطا تجدید دنکاح هم او چه ترڅو پوري دغه سړي په

([1]) او انکار ما اجمع علیه بعد العلم به لان ذلك دلیل علی ان التصدیق مفقود الخ وافعال تصدر عن المتهتکین لد لالتها علی الاستخفاف بالدین الخ (ردالمحتار باب المرتد ج۳ ص۹۲. ط. س. ج۴ ص۲۲۲). ظفیر

([2]) الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب المرتد ج۳ ص۳۹۸ ط. س. ج۴ ص۲۲۹. ظفیر

([3]) ردالمحتار باب المرتد ج۳ ص۳۹۹ ط. س. ج۴ ص۲۳۰. ظفیر

([4]) ردالمحتار باب المرتد ج۳ ص۳۹۳. ط. س. ج ۴ ص۲۲۹. ظفیر

توبي او پښیمانتیا سره پرخپل کار باندي پښیمانه نه وي دده سره قطع تعلق دسیاست اسلامیه مطابق دي او کم عالم چه داسي فتوي ورکړه هغه صحیح ده قال فی الشامی وما فیه خلاف یؤمر بالاستغفار والتوبة وتجدید النکاح ثم قالوا ظاهره انه امر احتیاط وقال بعد کلام واما امره بتجدید النکاح فهو لا شك فیه احتیاط، (۱) الحاصل اګر چه داسي سړي ته به کافر نه سي ویل کیدی لیکن دتوبي او استغفار ځخه بغیر چاره نسته او علي سبیل الاحتیاط تجدید دنکاح هم کول په کار دي او دټولو ځخه مخکی ده ته په کار دي چه دهغه عالم دین ځخه معافي وغواړي چه کم ته یې بغیر دشرعي قصور ځخه بد رد ویلي او خپل عاقبت ئي خراب کړي دي دعلماء دین تعظیم په حقیقت کي ددین تعظیم دي او دوي سپك ګڼل دین سپك ګڼل دي، په شرح فقه اکبرکي یې دخلاصی ځخه نقل کړي دي: من ابغض عالمًا من غیر سبب خیف علیه الکفر ص۲۱۳، وفي الظهیریة من بین وجها شرعیا فقال خصمه هذا کون الرجل عالمًا الخ یخاف علیه الکفر شرح فقه اکبر ص۲۱۴. (۲) فقط

دمرتد انکار به عود الي الاسلام ګڼل کیږي: **سوال**: (۱۲۵) زید مخکی مسلمان وو بیا یې څه وخت دعیسایانو سره اختلاط راغي او پادري صاحب ته ولاړی ده عیسایی مذهب اختیار کړی او ددې ځخه وروسته یوه مسلمان په قصد سره دخپلي لور نکاح دزید سره وکړه اوس زید وایي چه زه عیسایی سوي نه یم دا پرما باندي افتراء ده آیا دزید انکار دتوبي قائم مقام دی او ددغه جینۍ نکاح دده سره جائز ده؟

جواب: دفقهي په کتابونو کي یې لیکلي دي چه دمرتد انکار به عود الي الاسلام او دتوبي او رجوع قائم مقام به ګڼل کیږي لهذا په دي صورت کي چه کله زید دخپل عیسایی کیدو ځخه منکر دي نو بیا هیڅ وجه نسته چه دده دغه انکار دروغ کړل سي، دی که چیري واقعي عیسایی سوي وي نو بیا به دده افعال او اعمال خپله ګواه جوړ سي دده تکذیب به وکړي او دغه غیر واقعي انکار ده ته هیڅ فائده نه رسوي لیکن دغه وخت چه کله دي په ښکاره الفاظو کي دا وایي چه دا پرما پاندي بهتان دي زه عیسایی سوي نه یم نو بیا ضرورت نسته چه خواه مخواه دي دمرتدینو په زمره کي داخل کړل سي. بلکه اوس به داسي ویل کیږي چه دي دخپل انکار ځخه دتوبي اورجوع اعلان کوي: قال فی الخانیه وجحود الردة یکون عوداً الی الاسلام خانیه جلد۴ ص۲۰۴، وفی الدرالمختار شهدوا علی مسلم بالردة وهو منکر لا یعترض له لا لتکذیب الشهود العدول بل لان

(۱) ردالمحتار باب المرتد ج۳ ص۳۹۳. ط. س. ج۴ ص۲۳۵. ظفیر
(۲) وګورئ: ردالمحتار باب المرتد ج۳ ص۳۹۹. ط. س. ج۴ ص۲۳۰. ظفیر

انکاره توبة ورجوع الخ درمختار جلد۳ ص۲۹۹ (۱) او چه کله دده نکاح دده دانکار څخه وروسته سوي ده نو بيا دده په صحت کي هم څه تردد نسته . فقط

ماته دشريعت محمدي فيصله منظوره نه ده دکفر کلمه ده: سوال: (۱۲۶) ددوو کسانو په خپلو کي تنازع وه يوه ددوی څخه وويل چه فيصله موافق دشرع محمدي کول په کار دي دويم دده په جواب کي وويل چه ماته فيصله دشريعت محمدي ﷺ منظوره نه ده خپل رواج به چليږي نو دشريعت محمدي ﷺ دفيصلې څخه دمنکر دپاره څه حکم دي؟

جواب: دشريعت محمديه صلوت الله وسلامه علي صاحبها دفيصلې څخه انکار کفر دي دغه سړي لره په کار دي چه توبه او تجديد داسلام او تجديد دنکاح وکړي. (۲) فقط

چه څوک دعيسايي وغيره جوړيدو کوشش وکړي هغه هم کافر دي: سوال: (۱۲۷) يو شادي شده زناني ته څلور کسان دعيسايي کولو دپاره ولاړل چه نکاح يې ماته سي. دعيسايي کيدو په وخت يو سړي په دي نيت سره ولاړی چه زما نکاح او ايمان ته نقصان ونه رسيږي باقي دري کسان ورسره پاته سول او دعيسايي کيدو په وخت دوی رسوم عيسوي ټوپياني کښته کړي او ادا يې کړل پردوی باندي څه حکم دي؟ او دمذکوره زنانه مخکي نکاح ماته سوه اوکه نه؟

جواب: شرعي مسئله دا ده چه کم يوکس دچا په عيسايي کيدو اوکافر کيدو وغيره باندي راضي سو او په هغه کي کوشش وکی هغه هم په شريعت کي کافر دي نوکه چيري څلور واړه په دي باندي راضي وه نو څلور واړه کافران سول او که چيري دري راضي وه او يو ناراض سو او جلا سو نو دري کافران سول يو مستثني پاته سو (۳) او دداسي زنانه دپاره چه ديوه مسلمان دنکاح څخه دخارج کيدو دپاره عيسايي او مرتده سي په دي باره کي فقهاؤ دا حکم فرمايلی دي چه دغه زنانه به په جبر سره مسلمانيږي او بيا ددي دمخکي خاوند سره به ددي نيوي نکاح په يسير يعني لږ مهر سره وکړل سي. (۴) درمختار. فقط

---

(۱) الدرالمختار على هامش ردالمحتار باب المرتد ج۳ ص۴۱۳. ط. س. ج۴ ص۲۴۶. ظفير

(۲) وقد حقق فى المسايرة انه لابد فى حقيقة الايمان من عدم ما يدل على استخفاف من قول اوفعل ويأتى بيانه (ردالمحتار باب المرتد ج۳ ص۳۹۱. ط. س. ج۴ ص۲۲۲) اذا اطلق الرجل كلمة الكفر عمداً لكنه لم يعتقد الكفر قال بعض اصحابنا لايكفر الخ وقال بعضهم يكفر وهو الصحيح عندى لانه استخف بدينه (ايضا ج۳ ص۳۹۳). ظفير

(۳) ومن امر امرأة بان ترتد الخ كفر لا سكر (شرح فقه اكبر ص۲۲۵. ط. س. ج۴ ص۲۲۴). ظفير

(۴) ولو ارتدت لمجيئ الفرقة الخ وتجبر على الاسلام وعلى تجديد النكاح زجراً لها بمهر يسير كدينار وعليه الفتوى الخ (الدر المختار على هامش ردالمحتار باب نكاح الكافر ج۴ ص۵۴۰. ط. س. ج۳ ص۱۹۴). ظفير

دين او شريعت ته ښكنځل او بدرد ويل كفر دي: **سوال**: (۱۲۸) شپږو كسانو شراب وڅيښل دين اسلام ته يې بد رد وويل، ددوی سره څه سلوك كول په كار دي؟

جواب: شراب څيښل كبيره گناه ده او دين او شريعت ته بد رد ويل كفر دي، ده ته توبه كول په كار دي او تجديد داسلام او تجديد دنكاح كول ضروري دي. (۱) فقط

زه به دلمونځ گذار قبرته نه ځم دا دكفر كلمه ده: **سوال**: (۱۲۹) بنده ديوې تيلې تيلو كور ته داخيستلو دپاره ولاړی ما ده ته وويل چه ولاړ سه وروره لمونځ وكړه ده وويل چه څه په تا څه سوي دي په دوباره ويلو باندي هغه ما ته بدرد او ښكنځل وكړل په دريم ځل باندي هغه جواب وركړی ښكنځل يې كول چه زه به دلمونځ گذار قبر ته نه ځم په څلورم ځل ويلو باندي يې جواب وركړی چه كله لمونځ گذار خلاص سي نو څه به وسي او په منع كولو باندي هغه زه ووهلم زه شرمنده سوم او واپس راغلم، دداسي سړي دپاره څه حكم دي؟

جواب: ددغه سړي په فاسق كيدو كي دهيڅا په نزد شبه نسته اوپه دي حالت كي دكفر بيره ده ده لره توبه ايستل په كار دي او تجديد داسلام او تجديد دنكاح كول په كار دي. (۲) فقط

دشرعي فيصلې څخه منكر كافر دي كه نه؟ **سوال**: (۱۳۰) دوه كسان په يوه معامله كي په جگړه دي يوه وويل چه څه شرعي فيصله به وكی بل دشرعي فيصلې څخه انكار وكی نو دي كافر سو اوكه نه؟

جواب: دغه سړي فاسق دي په تكفير كي به احتياط كول كيږي. (۳)

ستا دمذهب دمور سره داسي وكړم دا دكفر كلمه ده: **سوال**: (۱۳۱) يو سړي دهوش او حواس په حالت كي داسي ووايي چه ستا دپير اوستا دمذهب دمورسره داسي وكړم نو ددي څه حكم دي او دغه سړي امام جوړول جائز دي اوكه نه؟

جواب: داسي كلمات كفري دي په دي سره دايمان دسلب كيدو خطره ده نو پر داسي سړي باندي دي فوراً توبه وايستل سي اوچه ترڅو پوري يې توبه نه وي ايستلي دده سره

---

(۱) من اهان الشريعة او المسائل التى لا بدمنها كفر (شرح فقه اكبر). ظفير

(۲) من قيل له اصل فقال لا اصلى بامرك كفر (شرح فقه اكبر ص۱۲۰) من قال اصلى جحودا او استخفافا اوعلى انه لم يومر اوليس بواجب فلاشك انه كفر فى الكل (ايضا ص۲۵۹). ظفير

(۳) وقد سئل فى الخير ية عمن قال له الحاكم ارض الشرع فقال، اقبل فافتى مفت بانه كفر وبانت زوجته فهل يثبت كفره فاجاب بانه لايبغى للعالم ان يبادر بتكفير اهل الاسلام (ردالمحتار باب المرتد ج۳ ص۳۹۹. ط. س. ج۴ ص۲۳۰). ظفير

به قطعًا متارکت وکړل سي. لقوله تعالی فلا تقعد بعد الذکری مع القوم الظالمین. ([1]) الایة او دی به امام نه سي جوړولي چه تر څو پوري دده توبه نه وي ایستلي .

موږ دالله ﷻ وریرونه یو دا دکفر کلمه ده: سوال: (۱۳۲) یو سړي ته وویل سول چه ته لمونځ ولي نه کوي نو ده جواب ورکړی چه موږ دالله وریرونه یو موږ ته معاف دي ددي څه حکم دي؟

جواب: دا دکفرکلمه ده داسړی دي توبه وباسي او بیا دي ایمان راوړي. ([2]) فقط

زموږ خدای انګریز دی، ددی قائل کافر او مرید دی: سوال: (۱۳۳) یو سړی کفري کلمات پرزبان باندي راوړي مثلاً داسي وایی چه زما خداي انګریز دي هم هغه موږ ته رزق راکوي په خالي لمونځ کولو سره هیڅ فائده نسته دغسي نوری خبری هم کوي دداسي سړي سره څه سلوك کول په کار دي؟

جواب: کم سړي چه مذکوره کلمات ووایی هغه کافر او مرتد سو ([3]) چه تر څو پوري توبه ونه باسي او تجدید داسلام ونه کړي دخاندان څخه یې خارجول په کار دي او دده په غم او ښادي کي هیڅکله شرکت نه دي کول په کار. فقط

قرآن او نبي څه شیان دي دا کفري خبری دي: سوال: (۱۳۴) یو سړی خپل ځان په ټولی کي ددرویشانو ښکاره کړیدی دپټو شیانو په اړه څرګندوني او خبري کوي او وایي چي داسي او داسي به پیښیږي او پرهمدې طریقه باندي مواظبت او دوام کوي، کله چي ده ته یوچا دنصیحت په ډول وویل چي دا ډول دغیبو خبرو بیان نه په قرآن کي دي اونه نبي ﷺ داسي کړي او ویلي دی نوپه جواب کي یې وویل چي پریږده قرآن مجید چشي دی؟ او نبي کریم ﷺ چشي دی اوڅوك دی؟ او دا مذکور سړی نه مسلوب الحواس دی اونه هم مجنون، نوداسی سړی آیا کافر سو اوکه نه؟

جواب: فی الشامی وبالجملة فقد ضم الی التصدیق بالقلب او بالقلب واللسان فی تحقیق الایمان امور الاخلال بها اخلال بالایمان اتفاقا کالسجود لضم وقتل نبی والاستخفاف به وبالمصحف والکعبة وکذا مخالفته او انکار ما اجمع علیه بعد العلم به لان ذالك دلیل علی ان التصدیق مقصود الخ شامی ([4]) نو معلومه سوه چه مذکوره قائل

([1]) سورة الانعام: ۱۴. ظفیر

([2]) من وصف الله تعالی بما لا یلیق به او سخر باسم من اسمائه اوبامر من اوامره اوانکرا وعدا ووعیده یکفر (شرح فقه اکبر ص۱۸۷). ظفیر

([3]) لایکفر احد من اهل القبلة الا فیما فیه نفی الصانع القادر العلیم او شرك اوانکار للنبوة (شرح فقه اکبر ص۱۹۹). ظفیر

([4]) ردالمحتار باب المرتد ج۳ ص۳۹۲. ط. س. ج۴ ص۲۲۲. ظفیر

کافر سو. فقط

په حالت دجنابت کي يې لمونځ وکی نو داسلام څخه خارج نه سو: سوال: (۱۳۵) زيد ديوڅو مبلغينو سره يو ځاي ته دتبليغ په غرض ولاړی په دغه محله کي پاته سو اتفاقا پرزيد باندي احتلام وسو هلته دسپيدو راختو څخه مخکي دقيام طرفته ټول خلق روان سول په لاره کي يو مسجد پيدا سو چه په هغه کي نه څه غسل خانه وه او نه دغسل خاني څه انتظام صرف په سقاوه کي داودس کولو دپاره اوبه موجودي وی ټولو خلقو دسهار لمونځ ادا کی زيد هم دحدث اکبر په حالت کي ددغه خلقو سره لمونځ وکی او دشرم دوجي يې خپل محتلم کيدل ښکاره نه کړل اوکه چيري لمونځ يې نه کولي نوټول دده په محدث کيدلو باندي پوهيدل او زيد ته پته وه چه دا لمونځ نه کيږي بلکه دلوستلو په وخت يې قصد کړي وو چه کورته په رسيدو وسره به غسل کوم او دا لمونځ به ادا کوم نو په صورت مسئوله کي زيد ته دجديد ايمان او دتجديد دنکاح کولو ضرورت سته او که نه؟ دشرع شريفي دطرف څخه دمعتبرو کتابونو څخه جواب مدلل کړئ او تحرير يې کړئ او عند الله ماجور سئ !

جواب: په صورت مسئوله کي زيد بدستور مسلمان او دده نکاح بدستور قائمه ده، ده لره پرخپل کار باندي توبه ايستل په کار دي پرده لازم دي چه هيڅکله دداسي حرکت ارتکاب ونه کړي په دي کي ددين اهانت او ددين اسلام دارکانو سپکوالي مشتبه کيږي بهر حال معتمد په دي صورت کي عدم تکفير دي کما فی الشامی والمعتمد عدم التکفير کما هو ظاهر المذهب (۱). فقط والله اعلم

دالله تعالي او دنبي عليه السلام په شان کي ګستاخي کول کفر دي: سوال: (۱۳۶) يوي ښځي دالله تعالي او رسول الله ﷺ په شان کي ډير بي ځايه الفاظ وويل او ددين محمدي څخه يې اعراض او توهين وکي ددي شرعي څه حکم دي؟

جواب: الله تعالي او دهغه پيغمبرانو ته بد رد ويل کفر دي ځکه الله تعالي دکافرانو دا صفت بيان کړي دي چه الله تعالي ته ښکنځل کوي: قال الله تعالی ولا تسبوا الذين يدعون من دون الله فيسبوا الله عدوا بغير علم الايه (۲) نوپه دې دي توبه وايستل سي.

دلمونځ څخه منکر کافر او مرتد دي: سوال: (۱۳۷) چه کم سړی دمانځه څخه قطعي انکار وکړي او دا وايي چه موږ يې نه کوو دي څنګه دي او مسلمانانو لره دده سره څه معامله پکار ده؟

---

(۱) ردالمحتار ط. س ج۴ ص ۲۳۰. ظفير
(۲) الانعام :۱۹. ظفير

جواب: دا کلمات کفري دي دداسي ویونکي دکفر خطره ده [۱] دداسي سړي سره دي اهل اسلام هیڅ تعلق نه ساتي دده سره دي تمام تعلقات منقطع کړي. فقط

زه کافره ترتا مومن ښه یم: **سوال**: (۱۳۸) هندي خپل بچي ته په ډیر محبت کي په راتلو سره وویل چه دا بچی ماته دتمام جهان دټولو څخه بهتر او ښه دي ددي خاوند وویل چه کم بختی په تمام دنیا کي خو انبیاء او اولیاء علیهم السلام هم دي دهغوی څخه څوك بهتر کیدي سي؟ هغی وویل چه دي دټولو څخه ښه دي په دي سره خاوند ورته وویل چه ته خو کافره سوې په دي سره هغه وویل چه زه کافره ستا په شان ترایماندار ښه یم [۲] آیا ددغه کلماتو په ویلو سره چه زه کافره ترتا ښه یم اوستا غوندي ایماندار نه غواړم هنده کافره سوه اوکه نه؟

کافري ته دتجدید ایمان څخه وروسته تجدید دنکاح ضروري دي: **سوال**: (۱۳۹) ۲: که چیري کافره سوه نو ددي په توبه ایستلو باندي دتجدید نکاح ضرورت سته او که نه؟

۳: دزید په دغه کلماتو سره چه زه ستا سره خبری اتري نه کول غواړم او ستا زما سره هیڅ تعلق نسته طلاق واقع سو اوکه نه اوکه چیري سوي وي نو کم یو رجعي یا بائن، او اوس درجوع څه صورت دي؟

۴: دزید سره چه کله هندي دا الفاظ وویل چه زه کافره ستا په شان دایماندار نه غواړم زید وویل چه ددغه کلماتو په ویلو سره ته زما دزوجیت څخه ووتلي صحیح ده او که نه؟

۵: چه ترڅو پوري هنده وروسته توبه ونه کړي چه دا الفاظ ما نه دي ویلي بیا به څه حکم وي؟

جواب: ۱: دا کلمات دکفر دي په دي سره هنده کافره سوه. [۳] ۲: دتجدید دایمان څخه وروسته دتجدید دنکاح ضرورت دي. [۴] ۳: هندي چه کم وخت دا کلمات وویل هغه کافره سوه نکاح ددي دزید سره فسخ سوه بیا پردي باندي په الفاظ مذکوره سره طلاق

---

[۱] من قال لا اصلی جحودا او استخفافا اوعلی انه لم یؤمر او لیس بواجب فلا شك انه کفر، اوکه دا مطلب یې وی چه لمونځ سوی دی اویا که داسی وی (شرح فقه اکبر ص۲۰۵) نو دکفر حکم نسته بهر حال تاویل ممکن دی. ځکه چه دکفر قطعی حکم نه سی کیدی. تحرزا انه لایفتی بکفر مسلم امکن حمل کلامه علی محمل حسن اوکان فی کفره اختلاف ولو روایة ضعیفة (ردالمحتار باب المرتد ج۳ ص۳۹۳. ط. س. ج۴ ص۲۲۹). ظفیر

[۲] اذا اطلق الرجل کلمة الکفر عمدا لکنه لم یعتقد الکفر قال بعض اصحابنا لایکفر الخ وقال بعضهم یکفر وهو الصحیح عندی لانه استخف بدینه (ردالمحتار باب نکاح الکافر ج۲ ص۵۳۹. ط. س. ج۴ ص۲۲۴). ظفیر

[۳] وارتداد احدهما فسخ علاجل (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب نکاح الکافر ج۲ ص۵۳۹. ط. س. ج۳ ص۱۹۳). ظفیر

[۴] وګورئ: ردالمحتار باب نکاح الکافر ج۲ ص۵۳۹. ط. س. ج۴ ص۱۹۳. ظفیر

واقع نه سو په درمختارکي دي: وارتداد احدهما فسخ عاجل فلا ينقض عدداً وتفصيل المسئلة في الشامي (۱). ۴: دا قول دزيد صحيح دي. **۵**: چه ترڅو پوري هغه دمذکوره کلماتو داقرار باوجود توبه ونه کړي نو دا به جدا کړل سي. ۶: دا به ددي توبه ګڼل کيږي اودا به مسلمانه ګڼل کيږي. فقط

دبت سجده صريح شرک دی: **سوال**: (۱۴۰) يو سړي ددي حال څخه چه دده اولاد هميشه ضائع کيدی سره دخپلي ښځي او ديوې بلي پردۍ ښځي دبت ماتا عبادت وکړی او دمور دبت دپاره يې غنم پاخه کړل تقسيم يې کړل آيا ددي فعل څخه وروسته دا دري واړه په دائره اسلام کي داخل دي او ددوی نکاح برحاله قائمه ده اوکه نه؟

جواب: دا کار کفر او شرك صريح دي ده لره تجديد داسلام توبه او استغفار او تجديد دنکاح کول لازم دي کذا حققه فی الدر المختار وردالمحتار (۲). فقط

لمونځ به نه کوم کافر به اوسيږم دکفر کلمه ده: **سوال**: (۱۴۱) ديوکچه مسجد ديوال دباران په وجه شهيد سو يو مسلمان دهغه خاوره پورته کوي او کور باندي تياروي اوپه منع کولو باندي وايي چه زه به ضرور خاوره وړم زه لمونځ نه کوم کافر اوسيږم، دده څه حکم دی؟

جواب: دا دکفر کلمه ده (۳) ددي څخه توبه کول په کار دي که دغه سړي توبه ونه کړي نو مسلمانانو ته په کار دي چه دده سره تعلقات پريکړي قال الله تعالی: فلا تقعد بعد الذکریٰ مع القوم الظالمين، الايه (۴). فقط

دالله تعالي په شان کي ګستاخي کفر دي: **سوال**: (۱۴۲) يو سړي دالله تعالي په شان کي دبي ادبۍ الفاظ وويل چه په هغو سره کفر عائد کيږي نو نکاح ماته سوه اوکه نه؟

جواب: چه په کمو الفاظو سره کفر عائد کيږي (۵) په دي کی دتوبي څخه وروسته او دتجديددنکاح څخه وروسته نکاح کول ضروري دي نودغه سړي لره په کاردي چه تجديد

---

(۱) شهدوا علی مسلم بالردة وهو منكر لا يتعرض له الخ لان انكاره توبة ورجوع (درمختار) ولوبدون اقرار بالشهادتين وهو قول ظاهر قول المتون (ردالمحتار باب المرتد ج۳ ص۴۱۳. ط. س. ج۴ ص۲۴۶). ظفير

(۲) وبالجملة فقد ضم الی التصديق بالقلب وبالقلب واللسان فی تحقق الايمان امور الاخلال بها اخلال بالايمان كالسجود للصنم (ردالمحتار باب المرتد ج۳ ص۳۹۴. ط. س. ج۴ ص۲۲۲). ظفير

(۳) من جحد فرضا مجمعا عليه كالصلوة والصوم والزكوة والغسل من الجنابة كفر (شرح فقه اكبر ج۳ ص۲۱۲) من قال لا اصلی جحودا او استخفافا الخ فلا شك انه كفر. ايضا ج۲ ص۲۰۹). ظفير

(۴) سورة الانعام. ظفير

(۵) والكافر بسب نبی من الانبياء فانه يقتل حدا ولا تقبل توبته مطلقا وسب الله تعالی قبلت لانه حق الله (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب المرتد ج۳ ص۴۰۰. ط. س. ج۴ ص۲۳۱). ظفير

دایمان وکړي توبه وباسي او تجدید دنکاح وکړي. (۱) فقط

دصدیق اکبر رضي الله عنه دصحبت منکر رافضي کافر دي: **سوال**: (۱۴۳) دصدیق اکبر رضی الله عنه دصحبت څخه دانکار روا ګڼلو والا او شیخینو رضي الله عنهم ته دښکنځلو والا دداسي سړي سره دمسلمانانو تعلقات ساتل او دخپل ځان سره په مساجدوکي په لمونځونو کي شریك کیدل شرعًا جائز دي اوکه نه؟

جواب: اقول وبه نستعین بي شکه داسي رافضي چه منکر دصحبت دصدیق رضي الله عنه وي بالاتفاق کافر دي او اکثرو فقهاؤ شیخینو رضي الله عنهم ته بدرد ویلو والاته هم کافر ویلي دي (۲) نو دداسي رافضي سره اختلاط او ارتباط ساتل او بغیر دانکار څخه دی دمسلمانانو مسجد ته راپریښودل او شریك لمونځ او جماعت کول حرام او ناجائز دي دداسي خلقو څخه چه ترکمه پوري کیدي سي اجتناب او جدایی دي وکړل سي: قال الله تعالی فلا تقعد بعد الذکری مع القوم الظلمین. (۳) فقط

مسجد ته زنا خانه ویل ګناه او معصیت دي: **سوال**: (۱۴۴) مسجد ته دا ویل چه دا زناخانه ده او دلته دخرونو او غوایانو ځاي دي دامسجد نه دي داڅنګه دي؟

جواب: دا هم سخته ګناه او معصیت دي توبه ایستل په کاردي (۴). فقط

دعالم توهین فسق دي: **سوال**: (۱۴۵) دعالم توهین کفر که فسق دي؟

جواب: فسق دي والتفصیل في الشامي ج۲. (۵)

دعالم توهین اوتحقیر کفر دي: **سوال**: (۱۴۶) یو سړي دعالم دین توهین وکی نودي کافر سو اوکه نه په بعضو کتابونو کي دي چه دعالم توهین او تحقیر کفر دي؟

جواب: فقهاؤ دا تصریح کړي ده چه ترڅو پوري تاویل ممکن وي دیو مسلمان تکفیر به نه سي کیدي او که چیري په یو سړي کي دکفر ډیر وجوهات وي او یوه وجه ضعیفه دعدم کفر وي نو مفتي ته په کار دي چه دعدم کفر طرفته میلان وکړي دا تمام تفصیل په درمختار او شامي کي دي (۶) لهذا په صورت مذکوره کي ده ته به کافر نه سي ویل

(۱) وارتداد احدهما فسخ عاجل (ایضا باب نکاح الکافر ج۲ ص۵۳۹). ظفیر

(۲) ان الرافضی اذا کان یسب الشیخین ویلعنهما فهو کافر الخ نعم لاشك فی تکفیر من قذف السیدة عائشة رضی الله تعالی عنها او انکر صحبة الصدیق الخ (ردالمحتار باب المرتد ص۴۰۵ وص۴۰۶). ظفیر

(۳) الانعام : ۴. ظفیر

(۴) قال الله تعالی ان المساجد لله فلا تدعوا مع الله احدا (سورة الجن: ۲). ظفیر

(۵) وترد شهادة من یظهر سب السلف لا نه یکره ظاهر الفسق (ردالمحتار باب المرتد ج۳ ص۴۰۵) وفی الخلاصة من ابغض عالما من غیر سبب ظاهر خیف علیه الکفر (شرح فقه اکبر ص۲۱۳). ظفیر

(۶) اذا کان فی المسئلة وجوه توجب الکفر وواحد یمنعه فعلی المفتی المیل بما یمنعه (الدر المختار علی =

کیدی البته احوط دا دي چه هغه سړي چه علماؤ ته بدرد اوښکنځل کوي او دعلم دین استخفاف کوي تجدید دایمان او تجدید دنکاح دي وکړي هذا کله فی ردالمحتار المعروف بالشامی (۱). فقط

دا شرع کمي خسرګني جوړه کړي ده کلمه دکفر ده: **سوال**: (۱۴۷) زید چه کله نکاح وکړه نو یحیي دا وویل چه دا شرع کمي خسرګنی جوړه کړیده چه داکا دښځي سره یې نکاح وکړه، دیحیي دپاره څه حکم دي؟

جواب: یحیي چه کمه خبره دخولي څخه وایسته دا کلمه دکفر ده ته په کار دي چه ددغی کلمې څخه توبه وباسي تجدید دایمان او تجدید دنکاح ورلره پکار دي. (۲)

تاویل چه تر څو پورې ممکن وي کافر به نه ورته ویل کیږي: **سوال**: (۱۴۸) زید وویل که چیري زه دبسم الله الرحمن الرحیم دپلار نوم ونه ښیم نو زما بي بي دي طلاقه وي او دپلار نوم یې ونه ښودی نو څه حکم دي؟ په دي باندي مجیب احتیاطا دتجدید دایمان او تجدید دنکاح حکم ورکړی زید چه کله دتجدید دنکاح دپاره خپلي بي بي ته ولاړی نو بي بي انکار وکی او ددویم خاوند اراده یې ښکاره کړه آیا دزید بي بي ددویم خاوند په زوجیت کي تلي سي اوکه نه؟

جواب: اقول وبالله التوفیق چونکه حکم دتجدید دایمان او تجدید دنکاح په دي صورت کي احتیاطاً وو نه ددي وجي چه هغه یقیناً کافر سو: لانه متی یمکن التاویل وان کان ضعیفا لا یحکم بکفره الخ ردالمحتار (۳) وغیره لهذا مذکوره زنانه ته دا جائز نه دي چه هغه دزید دطلاق څخه علاوه او دعدت دپوره کیدو څخه پرته ددویم سړي سره نکاح وکړي په درمختار کي دي: وما فیه خلاف یؤمر بالاستغفار والتوبة وتجدید النکاح الخ

= هامش ردالمحتار باب المرتد ج۳ ص۳۹۹. ط. س. ج۴ ص۲۳۰). ظفیر

(۱) ثم ان مقتضی کلامهم ایضا انه لایکفر بشتم دین مسلم ای لایحکم بکفره لامکان التاویل ثم رأیته فی جامع الفصولین حیث قال بعد کلام اقول وعلی هذا ینبغی ان یکفر من شتم دین مسلم ولکن یمکن التاریل بان مراده اخلاقه الردیة ومعاملته القبیحة لا حقیقة دین الاسلام فینبغی ان لایکفر حینئذ والله اعلم، واما امره بتجدید النکاح فهو لاشك فیه احتیاطا (ردالمحتار باب المرتد ج۳ ص۳۹۹. ط. س. ج۴ ص۲۳۵). ظفیر

(۲) اذا اطلق الرجل کلمة الکفر عمدا لکنه لا یعتقد الکفر قال بعض اصحابنا لا یکفر الخ وقال بعضهم یکفر وهو الصحیح عندی لانه استخفاف بدینه (ردالمحتا رباب المرتد ج۳ ص۳۹۳). ظفیر

(۳) اذا کان فی المسئلة وجوه توجب التکفیر ووجه واحد یمنعه فعلی المفتی ان یمیل الی الوجه الذی یمنع التکفیر تحسینا للظن بالمسلم الخ لا یفتی بکفر مسلم امکن حمل کلامه علی محمل حسن اوکان فی کفره اختلاف ولو روایة ضعیفة (ردالمحتار باب المرتد ج۳ ص۳۹۳. ط. س. ج۴ ص۲۳۰) ان مایکون کفرا اتفاقا یبطل العمل والنکاح وما فیه خلاف یؤمر بالاستغفار والتوبة وتجدید النکاح وظاهره انه امر احتیاط (ردالمحتار باب المرتد ج۳ ص۹۹ ط. س. ج۴ ص۲۳۰). ظفیر

قوله وتجديد النكاح اى احتياطا وقوله احتياطاً اى يامره المفتى بالتجديد ليكون وطؤه حلالا بالاتفاق وظاهره لانه لا يحكم القاضى بالفرقه بينهما وتقدم ان المراد بالاختلاف ولو رواية ضعيفة ردالمحتار [۱] شامی ص۳۹۹ ج۳. فقط

په رمضان کي اعلانيه خوراک، دروغ ويل وغيره فسق او معصيت دي: سوال: (۱۴۹) زيد او عمرو دواړه دبکر زامن دي عمر اوبکر دواړه دفعل قبيح مرتکب دي په رمضان شريف کي دورځي اعلانيه خوراك ځيښاك کوي دروغ وايي غلا زنا وغيره کوي زيد دي منع کوي او نصيحت ورته کوي نو بد زباني او سختي ښکنځلي ورته کوي دداسي خلګو سره څه معامله کول په کار دي او دده دپاره څه حکم دي؟

جواب: عمر او بکر په دي صورت کي فاسق دي او ددوی دکفر خطره ده [۲] ددي څخه دي توبه وکړل سي. او دتجديد دنکاح څخه وروسته دي دمسلمانانو په جماعت کي شامل کړل سي. او خوراك او ځيښاك دي ورسره وکړل سي کنه نو جلا دي کړل سي او دده سره دي خوراك ځښاك او ناسته هر څه پريښودل سي. فقط

ددين دامورو توهين کوونکي کافر دي: سوال: (۱۵۰) ما قولكم فى رجل قال التوبة كذا وكذا من انسب التوبة الى الفاظ شنيعة ما يستكره الناس بذكر ذالك الاعضاء المخصوصة هل يكفر لاهانة امر من امور الدين؟

علماؤ ته ښکنځلو کولو والا فاسق دي: سوال: (۱۵۱) نصح ونهى عالم زوجة امرأ عن فعل حرام او كلام قبيح بالاجنبى فاخبرت المرأة زوجها عنه فسب الزوج العالم فما يحكم على من يسب العلماء؟

جواب: ۱: يكفر [۳] ۲: هو فاسق ويخاف عليه الكفر [۴]. فقط

نبي ته خدای ويلو والا کافر او مشرک دي: سوال: (۱۵۲) ددې بيت دقائل په حق کي څه حکم دي؟

نبی جی ہمارا خدا بن کی آیا شریعت کا ڈر مگر صاف کہہ دوں

جواب: دا قول کفر دي او صريح شرك دي والعياذ بالله تعالي. فقط

---

[۱] وګوری: ردالمحتار باب المرتد ج۳ ص۴۱۴. ط. س. ج۴ ص۲۴۲. ظفير

[۲] من اهان الشريعة او المسائل التى لابد منها كفر (شرح فقه اكبر ص۲۱۵) ومن بين وجها شرعها فقال خصمه كون الرجل عالما اوقال لا تفعل معى عالميا لانه لاينفد عندى اى لا يجوز ولا يجوز ولا يمضى يخاف عليه الكفر (شرح فقه اكبر ص۲۱۴). ظفير

[۳] وكذا الاستهزاء على الشريعة الغراء كفر لان ذلك من امارات تكذيب الانبياء (شرح فقه اكبر ص۱۸۲). ظفير

[۴] وفى الخلاصة من ابغض عالما من غير سبب ظاهر خيف عليه الكفر الخ (شرح فقه اكبر ص۲۱۳). ظفير

دلمانځه په توهين سره دکفر بيره ده: **سوال**: (۱۵۳) دجرګې يو سړي وويل چه تاسو چه څه رنګه دخانګي معاملاتو اهتمام کوی که چيري دغه رنګه په لمونځ روژه يا نورو امورو شرعيه ؤ کي توجه وفرماياست نو څومره کورونه به لمونځ ګذار سي په دي باندي صدر دجرګې جواب ورکي چه ته دجرګې او دلمانځه وغيره مقابله کوي آيا په لمونځ ادا کولو سره مسلمانيږي موږ په دي باندي شرط لګوو که چيري يو مولوي صاحب دا ثابته کړي نو زه به ورته لس روپۍ ورکړم کنې ستا څخه به يې واخلم سوائل دا دی چي دصدر مذکور وينا حق په جانب ده اوکه نه؟

جواب: دصدر دجرګې دا قول لغوه دي بلکه په دي کي دکفر خطره ده چه ده دلمانځه توهين وکی نبي عليه السلام لمانځه ته ددين ستن فرمايلي ده چه چا دلمانځه پرواه ونه کړه نو ده ددين ستن وغورزوله او پرترك صلوة باندي په حديث کي دکفر اطلاق راغلی دي چه من ترك صلوة متعمداً فقد كفر [1] يعني چا چه قصداً لمونځ پريښوو هغه کافر سو نواګر چه احناف تارك الصلوة ته کافر نه وايي او دحديث مذکوره تاويل کوي ليکن په فاسق کيدو کي دده هيڅ شبه نسته او دلمانځه توهين کوونکي يا سپك ګڼلو والا دلمانځه بالاتفاق کافر دي [2] اوهم دا تاويل دحديث مذکور دي نو دصدر مذکور قول بالکل دبي دينۍ دليل دي اوګويا لمونځ دده په نزد دا هتمام لائق نه دي. فقط

په شريعت پوري استهزاء کفر دي: **سوال**: (۱۵۴) يوسړی دا الفاظ وويل چه شرعي فيصله ما ته منظوره نه ده او شريعت هيڅ شي نه دي دپوښتني کولو خبرده دا ده چه داسي سړی شرعًا مرتد دي اوکه نه؟ او دده سره اسلامي تعلقات ساتل جائز دي که نه؟

جواب: بي شکه په دين او شريعت پوري استهزاء او انکار کفر دي، كما فى الشامى ويظهر من هذا ان ما كان دليل الاستخفاف يكفر به وان لم يقصد الاستخفاف الخ [3] ص۲۸۴ جلد۳. فقط

مسخرو اوورولو والا فاسق دي: **سوال**: (۱۵۵) نقال خلق په قسما قسم طريقو مسخری کوي او خلق خندوي په دي کي نقال او خنديدونکي کافر او ددوی ښځي مطلقی جوړيږي اوکه نه؟ اوپه مسخرو کي معلم جوړ سي هلکانو ته سبق لولي!

---

(۱) قل انما انا بشر مثلكم يوحى الى انما الهكم اله واحد فمن كان يرجوا لقاء ربه فليعمل عملا صالحا ولا يشرك بعبادة ربه احدا (الكهف). ظفير

(۲) وقد حقق بالمسايرة انه لابد فى حقيقة الايمان من عدم مايدل على الاستخفاف من قول اوفعل (ردالمحتار باب المرتد ج۳ ص۳۹۱. ط. س. ج۴ ص۲۲۲). ظفير

(۳) مشكوة المصابيح. ظفير

جواب: اقول وبالله التوفيق قال فی الشامی ناقلاً عن البحر والذی تحرر انه لا يفتی بكفر مسلم امكن حمل كلامه على محمل حسن او كان فی كفره اختلاف ولو رواية ضعيفة فعلى هذا فاكثر الفاظ التكفير المذكورة لا يفتی بالتكفير فيها ولقد الزمت نفسی ان لا افتی بشيء منها اهـ (١) بحر وايضًا فی ردالمحتار وعلى هذا ينبغی ان يكفر من شتم دين مسلم ولكن يمكن التاويل بان مراده اخلاقه الردية ومعاملته القبيحة لا حقيقة دين الاسلام فينبغی ان لا يكفر حينئذ الخ (٢) الحاصل ددغه نقالو په تكفير كي احتياط كول لازم دي البته تجديد دايمان اوتوبه اواستغفار اوتجديد دنكاح احتياطا لازم دي. فقط

دقران او حديث توهين كفر دي: **سوال**: (۱۵۶) په يوه جرگه كي په خپلو كي دنفاق دليری كولو په غرض سره زيد څه ثبوت د قرآن او حديث څخه وركړی او دا يې وغوښتل چه په خپلو كي نزاع دشريعت موافق ليری كړی په دي باندي بكر ولاړ سو زيد ته يې دا وويل چه ته داخوا ديخوا په احاديثو سره دا ليكچر وركوی او خپل مطلب راوستل غواړي دداسي سړي دخبری شرعًا څه حكم دي؟

جواب: دقرآن شريف او حديث شريف توهين كول كفر دي لكه څنگه چه په رد المحتار شامي كي دي: وبالجملة فقد ضم الى التصديق بالقلب او بالقلب واللسان فی تحقق الايمان امور الاخلال بها اخلال بالايمان اتفاقا كالسجود للصنم وقتل نبی والاستخفاف به وبالمصحف والكعبة الى ان قال لان ذلك دليل على ان التصديق مفقود الخ ص۲۸۴ جلد۳ (٣) شامي، ددي عبارت څخه واضحه سوه چه دقرآن شريف توهين كول او دنبي ﷺ توهين او ددوی داحاديثو توهين كفر دي، والعياذ بالله تعالي لهذا دغه سړي لره توبه ايستل په كار دي او ده لره تجديد دايمان او تجديد دنكاح ضروري دی. فقط

په بسم الله لوستلو باندي استهزاء كول كفر دي: **سوال**: (۱۵۷) ۱: زيد دهر كار په شروع كي دبسم الله ويلو عادي دي يوه ورځ عمر زيد ته په دي ويلو باندي ډير طعن او تشنيع وكی او دا يې وويل چه دخداي لاره په گرنگونو كي پرته ده هغه ته هر وخت دچيغو وهلو څه ضرورت دی؟

پر تقدير باندي په شک كولو سره دكفر خطره ده: **سوال**: (۱۵۸) ۲: عمر هميشه دتقدير پرمسئله باندي پرعالمانو باندی طعن او تشنيع او بحث كوي.

---

(١) وكالاستهزاء على الشريعة الغراء كفر لان ذلك من امارات تكذيب الانبياء (شرح فقه اكبر ص۱۸۲). ظفير
(٢) ردالمحتار باب المرتد ج۳ ص۳۹۲. ط. س. ج۴ ص۲۲۲ من اهان الشريعة او المسائل التی لابد منها كفر (شرح فقه اكبر ص۲۱۵). ظفير
(٣) ردالمحتار باب المرتد ص۳۹۳. ط. س. ج۴ ص۲۲۹. ظفير

۳: او عمر دقبر دعذاب په باره کي شك کوي او دعلماؤ سره همیشه بحث او تکرار کوي او جاهلان بد عقیده کوي دعمر دپاره څه حکم دي؟

جواب: په احکام شرعیه پوري استهزاء کول کفر دي (١) او په بسم الله لوستلو پوري استهزاء کول دغسي دتقدیر په مسئله کي شك کول او دقبر په عذاب کي شك کول او بغیر دڅه وجي علماؤ ته ښکنځل کول دا ټول امور حرام دي بعضي ددوی څخه دکفر حد ته رسیږي لهذا عمر ته توبه کول تجدید داسلام او تجدید دنکاح کول لازم دي، په رد المحتار شامي جلد۳ ص۲۸۴ کي دي: ولذا قال فی المسایرة وبالجملة فقد ضم الی التصدیق بالقلب او بالقلب واللسان ان فی تحقق الایمان امور الاخلال بها اخلال بالایمان اتفاقا کالسجود للصنم وقتل نبی والاستخفاف به وبالمصحف والکعبة وکذا مخالفة او انکار ما اجمع علیه بعد العلم به لان ذالك دلیل علی ان التصدیق مفقود الخ قلت ویظهر من هذا ان ما کان دلیل الاستخفاف یکفر به وان لم یقصد الاستخفاف. (٢)

دالله تعالي په شان کي ګستاخي کفر دي: **سوال**: (۱۵۹) یو مسلمان په غصه کي دالله جل جلا له په نوم باندي دا ووایي زه ستاسو خداي ته ټینګار ښیم (والعیاذ بالله) او داسي قسم الفاظ دګستاخۍ او بي ادبۍ دالله تعالي په شان کي استعمال کړي نو دي مسلمان دي او که نه؟

جواب: مذکوره سړی شرعًا قطعًا کافر او مرتد دي او دده بي بي دده دنکاح څخه خارجه سوه ده لره تجدید دایمان او تجدید دنکاح ضروري دي. (٣) فقط

دبزرګانو سره ګستاخي حرام او فسق دي: **سوال**: (۱۲۰) چه کم سړي خپلو بزرګانو، اکا استاذ وغیره ته تکلیف ورکړي اوګستاخانه الفاظ وایي هغه فاسق اوکافر دي اوکه نه؟ ده ته کافر ویل جائز دي اوکه نه؟ او چه کم سړي دعلماؤ تحقیر کوي ده ته کافر ویل په کار دي اوکه نه؟

جواب: دا صحیح ده چه خپلو بزرګانو اکا وغیره او استاد ته بغیر دڅه وجي تکلیف ورکول او ګستاخانه کلام ددوی سره کول حرام او ګناه کبیره ده او مرتکب ددي فاسق دی لیکن ده ته کافر نه دي ویل په کار ځکه چه کفر یو لوی شي دي چه ترڅو پوري تاویل ممکن وي کافر به ورته نه سي ویل کیدی دغسی دعلماء حق تحقیر کول هم سخته

---

(١) ردالمحتار باب المرتد ج۴ ص۳۹۹. ط. س. ج۴ ص۲۳۵. ظفیر

(٢) ردالمحتار باب المرتد ج۳ ص۳۹۲. ط. س. ج۴ ص۲۲۲. ظفیر

(٣) من اهان الشریعة او المسائل التی لابد منها کفر وکذا الاستهزاء علی الشریعة الغراء کفر (شرح فقه اکبر ص۱۸۸). ظفیر

گناه ده ده ته هم کافر نه دي ویل په کار ځکه چه دتاویل گنجائش سته هکذا في کتب الفقه ([1]). فقط

مرزا غلام احمد مجدد او دفیض نبوت څخه مستفید گڼلو والا هم کافر دي: **سوال**: (۱۲۱) موږ په هغه تمام احکاماتو باندي چه دمحمد ﷺ دشریعت دي ایمان لرو او ددي دتابعداری کوشش کوو او مرزا صاحب مجدد او پراتباع او پیروي دمحمد ﷺ او دده دطرف څخه دفیض نبوت څخه مستفید گڼو، دشریعت محمدي ﷺ مطابق دداسي سړي دپاره څه حکم دي؟

جواب: واضحه ده چه که چیري په یوسړي کي دټولو عقائد اسلامیه ؤ باوجود دمنلو یوه عقیده هم کفریه وي او دضروریاتو ددین څخه دیوه امر هم انکار کوي نو هغه کافر دي نو چه کم سړی باوجود ددعوي داسلام او عقائدِ اسلام یو داسي مرتد او ملحد چه دهغه دکتابونو څخه دده کفریات ثابت وي مسلمان وگڼي بلکه دي مجدد او دفیض نبوت څخه مستفید وگڼي هغه هم قطعًا کافر دي ځکه چه ده کافر مسلمان او کفر اسلام وگڼی، نو چه کلیه محققه ده چه مرزا غلام احمد قادیاني دنبوت ددعوې باوجود دتوهین دانبیاء کرامو علی نبینا وعلیهم الصلوة والسلام وغیرها مرتکب دی نو قطعًا کافر دي ځکه چه کم سړی داسي کافر او ملعون مجدد او مستفید دفیض نبوت څخه وگڼي دده په کفرکي څه شبه کیدی سي. ([2]) فقط

دحدیث نبوي توهین کفر دي: **سوال**: (۱۲۲) دیو مخصوص حدیث توهین څه حکم لري او توهین کوونکی دخاص حدیث چه ووایي چه پردي حدیث متیازي وکړم نوڅه حکم دي؟

جواب: په دي کی هیڅ شك نسته چه سپکاوي اوتوهین دحدیث او سپکاوی دشرعي کتابونو کفر دي والعیاذ بالله تعالی: قال فی ردالمحتار ولذا قال فی المسایرة وبالجملة فقد ضم الی التصدیق بالقلب او بالقلب واللسان فی تحقق الایمان امور الاخلال بها اخلال بالایمان اتفاقا کسجود صنم وقتل نبی والاستخفاف به وبالمصحف والکعبة الی ان قال ولاعتبار التعظیم المنافی للاستخفاف کفر الحنیفیة بالفاظ کثیرة وافعال تصدر من المتهتکین لدلالتها علی الاستخفاف بالدین کالصلوة بلاوضوء عمدًا بل بالمواظبة علي ترک سنة استخفافا بسبب انه فعلها النبی ﷺ زیادة او استقباحها کمن استقبح من اخر جعل بعض العمامة تحت حلقه او احفاء شاربه

---

[1] وگوری: ردالمحتار باب المرتد ج۳ ص۳۹۲. ط. س ج۴ ص۲۲۲. ظفیر

[2] من وصف الله بما لا یلیق به او سخر باسم من اسمائه او بامر من اوامره اوانکر وعده او وعیده یکفر (شرح فقه اکبر ص۱۸۷). ظفیر

الخ (۱) ج۳ ص ۲۸٤. فقط

ته انبياء پرسر ګرځوه دا ويل کفر دي: **سوال**: (۱۲۳) يو سړی فسادي او جګړه مار دي که چيري يو سړی ده ته دا ووايي چه دانبياؤ ښه طريقه او اخلاق دي نو هغه جواب ورکوي چه ته خو بس انبياء پرسر ګرځوه پرده باندي کفر عائد کيږي اوکه نه؟

جواب: دا کلمه ويل چه په دي کی دانبياء عليهم السلام توهين دی کفر دي داسي سړي چه ترڅو پوري توبه ونه باسي او تجديد داسلام ونه کړي نو ترهغه وخته پوري دده سره ليدل او تعلقات پريښودل په کار دي. (۲) فقط

ديو حديث څخه منکر کافر سو اوکه نه؟ **سوال**: (۱۲۴) يو سړي يو عالم ته پريوه مسئله باندي په مسجد کي تکرار وکی بد رد يې ورته وويل او دحقارت خبري يې ورته وکړي مذکوره عالم کتاب را وغوښتی او حديث يې ورته وښودی دغه سړي وويل که چيري په څوارلس کتابه کي هم راته دا حديث وښيي نو بيا هم دا حديث نه منم بلکه څه چه مشرانو کړي دي هغه به موږ کوو وروسته ددغه حديث سره په دښمنۍ کي دغه سړي موصوف عالم ته ښکنځل وکړل او توهين يې وکی او مسجد ته نه راځي وايي چه موږ په دغه عالم پسي لمونځ نه کوو شرعًا دا سړی کافر دي اوکه نه؟

۲: يو سړي رشوت خور، دروغجن، سود خور څلور سوه پنځه سوه روپۍ واخيستی ددروغو ګواهي ورکوي او دعالم خبره نه مني اوپه غريبانو کي چه کم عام وي په هغه پسي لمونځ نه کوي دداسي سړي دپاره شرعًا څه حکم دي؟

جواب: دا دواړه ظالم او فاسق دي توبه دي وباسي او اول سړی دکفري کلماتو مرتکب سوي دي بيا هم دتاويل دامکان په وجه ده ته په کافر ويلو کي به احتياط کيږي ليکن احتياطاً ده لره تجديد دايمان اوتجديد دنکاح کول په کار دي. (۳) فقط

دنکاح بد ګڼلو والا ګناهګار دي: **سوال**: (۱۲۵) که چيري يو سړی نکاح بده ګڼي نو دي به کافر وي که ګناهګار؟

جواب: دی به کافر نه وي ګناهګار به وي. (۴) فقط

---

(۱) انه لا يفتی بکفر مسلم امکن حمل کلامه علی محمل حسن اوکان فی کفره اختلاف ولو رواية ضعيفة (ردالمحتار باب المرتد ج۳ ص۳۹۳. ط. س. ج۴ ص۲۲۹). ظفير

(۲) قد يکون فی هٰؤلآء من يستحق القتل کمن يدعی النبوة او يطلب تغير شيء من الشريعة ونحو ذلك (شرح فقه اکبر ص۱۸۴). ظفير

(۳) ردالمحتار باب المرتد ج۳ ص۳۹۲. ط. س. ج۴ ص۲۲۲. ظفير

(۴) وان شتم الملائکة کالانبياء (درمختار) هو مصرح به عندنا فقالوا اذا شتم احدا من الانبياء او الملائکة کفر وقد علمت ان الکنفر بشتم الانبياء کفر ردة فکذا الملائکة فان تاب فبها والا قتل (ردالمحتار باب المرتد ج۳ =

<u>دا ويل چه الله او رسول نه پيژنم كفري كلمات دي</u>: سوال: (۱۲۶) زيد خپلي بي بي ته داتلس كالو څخه نه نفقه وركوي نه دا رابولي چه كله ده ته دا وويل سي كه چيري ته دانه ساتى نو طلاق وركړه او دالله او رسول څخه خوف وكړه ددي جواب دا وركوي چه زه الله تعالي او رسول الله ﷺ نه پيژنم چه څوك دي نعوذ بالله تعالي، په دي صورت كي دده پر بي بي به طلاق واقع كيږي اوكه نه؟

جواب: په الفاظ مذكوره ويلو سره زيد كافر اومرتد سو او ددي بي بي دده دنكاح څخه خارجه سوه كما فى الدرالمختار وارتداد احدهما فسخ عاجل الخ (۱) لهذا نكاح ثاني دده دبي بي په دي صورت كي درسته ده. فقط

<u>دشرعي احكامو متعلق نازيبا كلمات ويل كفر دي</u>: سوال: (۱۲۷) چه كم سړى دمسجد امام سي او قصداً لمونځ پريږدي اوبيره تر قبضي پوري زياتول بد ګڼي او دا وايي چه زه دسپي لكى نه زياتوم دشريعت دعلماؤ سره ضد ساتي او ددوى په وعظ كي شريكيدل بد ګڼي او دبدعتي اواز په خوښى سره اوري په داسي سړي پسي لمونځ كول جائز دي اوكه نه؟ او دا حديث صحيح دي او كه نه: ثلثة لا ترفع لهم صلاتهم فوق رؤسهم رجل ام قوما وهم له كارهون؟

جواب: داسي سړى فاسق دي او دشرعي احكامو متعلق ده چه كم الفاظ استعمال كړي دي هغه دكفر كلمات دي عمداً لمونځونه پريښودل، داسلام دشعائرو متعلق داسي توهين آميز الفاظ استعمالول، دعلماء حق سره بغض او عداوت ساتل، وغيره وغيره دا ټول امور دده پرفسق او الحاد باندي شاهد دي او دفقهاؤ دتصريح مطابق اقتداء دفاسق مكروه ده په كراهيت تحريمي سره دټولو لمونځ ګذارو فرض دي چه داسي سړي دامامت دمنصب څخه دهميشه دپاره جلا كړي په كبيري كي دي: وفيه اشارة الى انهم لو قدموا فاسق يأثمون بناءاً على ان كراهة تقديمه كراهة تحريم لعدم اعتنائه بامور دينه وتساهله فى الاتيان بلوزامه الخ (۲) وفى الخلاصة من ابغض عالما بغير سبب ظاهر خيف عليه الكفر وفيه ايضًا من قال قصصت شاربك والقيت العمامة على العانق استخفافا الخ فذالك كفر الخ شرح فقه اكبر (فصل فى العلم والعلماء) (۳) په سوال كي چه دكم حديث دصحت متعلق پوښتنه سويده هغه په سنن ابي داؤدكي نقل دي فقهاؤ په دي حديث سره

= ص۴۰۳ ط. س. ج۴ ص۲۳۵). ظفير

(۱) من اهان الشريعة او المسائل التى لابد منها كفر (شرح فقه اكبر ص۲۱۵). ظفير

(۲) النكاح من سنتى فمن رغب عن سنتى فليس منى (مشكوة). ظفير

(۳) الدرالمختار على هامش ردالمحتار باب نكاح الكافر ج۵ ص۵۳۹. ط. س. ج۳ ص۱۹۳. ظفير

دداسي سړي امامت مکروه ليکلي دي. فقط

دا ويل چه دپير دکار په مخکي لمونځ هيڅ نه دي دکفر کلمه ده: سوال: (۱۶۸) زيد ديو سړي مريد دي او دزيد دا عقيده ده او دا قول دي چه دپير دکار په مخکی لمونځ هيڅ شي نه دي دزيد دا عقيده شرعًا څنګه ده؟ او دزيد دپاره شرعًا څه حکم دي دزيد ګواهي معتبره ده او که نه؟

جواب: دزيد دا خبره دزنديقيت او کفري کلماتو څخه ده تمام هغه الفاظ چه په هغه سره ددين او ددين ديو رکن توهين وسي يا دسپکوالي په طريقه وويل سي موجب للکفر دي معاذ الله منه، بلکه بعضي فقهاؤ خو پرداسي بيباکه او بد لګام خلقو باندي دکفر حکم لګولي دي زيد ته دداسي هتك آميز او جاهلانه الفاظو او دداسي مهلك اعتقاد څخه فورًا توبه ايستل په کار دي چه ترڅو پوري تائب سوي نه وي دده ګواهي به نه معتبريږي داسي پير پرستي هغه ده چه شرك ورته ويل کيږي. وفی الخلاصة يكفر بقوله انا برئ من الثواب والعقاب الخ بحر وفی المسائرة كفر الحنفية بالفاظ كثيرة وافعال تصدر من المتهتكين لدلالتها على الاستخفاف بالدين الخ بحر الرائق جلد ۵، وفی العالمگيرية نقلاً عن المحيط: اذا ترك الرجل الصلوة استخفافا بالجماعة بان لا تفويت الجماعة الخ او مجانةً او فسقا لا تجوز شهادته. (۱)

زه اسلام نه منم دکفر کلمه ده: سوال: (۱۶۹) يو سړي دمولويانو په شان کي سختي خبری وکړي پردي باندي ما دوې څلور خبري نصيحت وکی نو دغه سړي جواب راکړی چه زه اسلام نه منم دده دپاره څه حکم دي؟

جواب: دغه سړي کافر سو او داسلام څخه خارج سو (۲) او که چيري توبه ونه باسي نو مسلمانانو لره په کار دي چه دده سره تعلق پرې کړي او ده ته پوره تدارك ورکول په کار دي. فقط

دهندو نذر مسلمان پوره کی نوهغه نه کافر کيږي: سوال: (۱۷۰) يو مسلمان ديوه بت په نم باندي نذر وکی چه دهغه صورت دا سو چه دي ديوه هندو په سرای کي اوسيدی هندو دا نذر وکی چي که چيري دغه سړی تندرست سو نو زه به يو سرلی قرباني کوم. مسلمان دغه نذر پوره کړی اوس دي مسلمان دي او که نه؟

---

(۱) واما الفاسق فقد عللوا كراهية تقديمه بانه لا يهتم وبان فی تقديمه تعظيمه وقد وجب عليهم اهانته شرعا الخ وفی شرح المنية على ان كراهة تقديمه كراهة تحريم (ردالمحتار باب الامامة ج۱ ص۵۴. ط. س، ج۳ ص۵۲۰).

(۲) عالمگيری: قالت امراة لزوجها ليس لك حمية ولا دين الاسلام فقال الزرج ليس لی حمية ولا دين الاسلام فقد قيل انه يكفر (عالمگيری مصری موجبات الكفر ج۲ ص۲۷۷. ط. ماجدية ج۲ ص۲۷۷). ظفير

جواب: په دي صورت کي پردغه مذکوره سړي باندي حکم دکفر اوارتداد نه سي کولي ليکن احتياطا تجديد دايمان او تجديد دنکاح او توبه لازم دي. فقط

زما حشر به دهندوانوسره وي: **سوال**: (۱۷۱) که چيري يو سړي دا وو ايي چه زما حشر به دهندوانو سره وي ددي جملی ويلو والا که چيري مرتد سي نو په خالي ارتداد سره به دده زوجه دنکاح څخه ووزي اوکه دتفريق دقاضي يا دخاوند دطلاق ضرورت به وي او دارتداد څخه وروسته هم داوقاف غړی پاته کيدي سي اوکه نه؟

جواب: دا کلمه دکفر ده او ددي کلمي قائل په خپل مرګ او دکافرو سره په حشر کيدو باندي راضي دي يا درضامندي اظهار کوي ځکه چه په عربي کي ترجمه ددي لفظ دا ده: احشر مع الكفار، او دا محقق دي او په حديث شريف کي راغلي دي: كما يقولون تحشرون او كما قال ﷺ اخرجه الدنيا بلا ايمان او كافرًا او اماته بلا ايمان اوكافرًا او ابده الله فی النار او اخلده كفر الخ وفی المحيط من رضی بكفر نفسه فقد كفر ای اجماعا ويكفر غيره اختلاف المشائخ الخ وفی موضع اخر منه لا حمية لی ولا دين كفر يعنی بقوله فلا دين لی فانه خرج بهذا عن دين الاسلام ([1]) الغرض ددي کلمي په کفر کيدوکي هيڅ تردد نه معلوميږي او په ارتداد سره دده بي بي فوراً دده دنکاح څخه خارجيږي دقاضي دتفريق ضرورت نسته: وارتداد احدهما فسخ عاجل درمختار ([2]) او دا صحيح ده چه دتوليت دپاره اسلام شرط نه دي امين او قادر علي انتظام التولية کيدل وغيره شرط دي قال فی الاسعاف ولا يولی الا امين قادر بنفسه او ابنائه الخ ويشترط المصحفة بلوغه وعقده لا حريته واسلامه شامی ([3]) جلد نمبر۳. فقط

دکلمي دترتيب په بدلولو سره کفر نه لازميږي: **سوال**: (۱۷۲) يو سړي په خپله شجره کي کلمه طيبه په يوه کرښه کي په دي عنوان سره ليکلي ده: يا الله رسول الله ابوبكر عمر لا اله الا الله محمد عثمان علي، ديته کفر او شرك ويل او ليکونکي ته يې کافر ويل صحيح دي او که نه؟ بينوا وتؤجروا !

جواب: بنده مخکي ددي مسئلی جواب بعضي خلقو ته ليکلی دي کفر اوشرك ويل دغه رنګه مذکوره کلماتو ليکلو ته صحيح نه دي او ددي په کفر کيدو او ليکونکي ته يې دکافر دويلو هيڅ دليل نسته ليکن دا ضرور ده چه دغه رنګه غير مرتبه نه دي ليکل په

([1]) وكوری شرح فقه اكبر، قالت امرأته لزوجها ليس لك حمية ولا دين الاسلام الخ فقال الزوج ليس لی حمية ولا دين الاسلام فقد قيل يكفر (عالمگيری مصری موجبات الكفر ج۲ ص۲۷۷. ط. س. ج۴ ص۲۷۷). ظفير

([2]) الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب نكاح الكافر ج۲ ص۵۳۹. ط. س. ج۴ ص۱۹۳. ظفير

([3]) وكذا لو صلی بغير القبلة او بغير طهارة متعمدا يكفر (شرح فقه اكبر ص۱۸۸). ظفير

کار، بلکه لا اله الا الله محمد رسول الله (ﷺ) اول لیکل په کار دي ددي څخه وروسته دخلفاء راشدینو نومونه علي الترتیب لیکل په کار دي مثلاً: ابوبکر، عمر، عثمان علي رضي الله عنهم اجمعین. فقط

محتلم په لمانځه کي شریک سو نوکافر نه سو: **سوال:** (۱۷۳) زید دشپې محتلم سو دسهار په وخت یې نه ولامبل او نه یې دسهار لمونځ وکی بیا دماپښین په وخت دشرم دوجي دغسل څخه بغیر په جماعت کي شامل سو نو دي ددائرې داسلام څخه خارج سو اوکه نه او دتجدید دنکاح ضرورت سته که نه؟ دمازیګر په وخت یې غسل وکی دسهار او ماپښین لمونځونه یې ادا کړل او توبه او استغفار یې وکړل.

جواب: په دي صورت کي صحیح دا ده چه دي کافر نه سو اوپه توبې او استغفار سره دده ګناه معاف سوه احتیاطا تجدید دایمان او تجدید دنکاح کول بهتر دي کذا في الدر المختار ([1]). فقط

خنزیر به وخورم کلمه به ونه لولم په دي سره مرتد سو: **سوال:** (۱۷۴) عمر زید ته دیو څو مسلمانانو په مخکی دا وویل چه ته نه لمونځ کوي او نه روژه نیسی تر دي پوري چه کلمه لوستل هم نه پیژني که یې پیژني نو وې لوله په دي باندي زید وویل موږ یې نه لولو بیا دده څخه دکلمي لوستلو اصرار وکړل سو نو قسم یې وخوړی او وی ویل چه موږ به دخنزیر غوښه وخورو که چیري کله کلمه ولولو یا واورو، آیا زید داسلام ددائرې څخه خارج سو اوکه نه؟

جواب: په دي صورت کي زید داسلام ددائرې څه خارج سو اوکافر سو والعیاذ بالله تعالي، ([2]) ده لره تجدید دایمان او توبه کول لازم دي. فقط

دشیطان علم وسیع دي که درسول الله ﷺ ؟ **سوال:** (۱۷۵) چاچه په مجمع عام کي دا وویل چه یقینا دشیطان علم درسول الله ﷺ دعلم څخه وسیع دي آیا داکلمه کفر ده؟ او ویونکي کافر دي اوکه نه؟

جواب: په نصوصو کي راغلي دي چه علم غیب دالله تعالي څخه ماسوا دهیچا سره نسته او انبیاء علیهم السلام او خاتم الانبیاء علیه الصلوة والسلام ته چه څومره قدر علم الله تعالي دمغیباتو ورکړي دي هغه دوی ﷺ ته معلوم سو لکه څنګه چه په شرح فقه اکبر کي دي: ثم اعلم ان الانبیاء علیهم السلام لم یعلموا من المغیبات الا ما اعلمهم الله

([1]) وکذا الولی بغیر القبلة او بغیر طهارة متعمدا یکفر (شرح فقه اکبر ص۱۸۸). ظفیر

([2]) لا یکفر احد من اهل القبلة الا فیه نفی الصانع القادر العلیم اوشرك اوانکار للنبوة (شرح فقه اکبر للملا علي قاري رحمه الله ص۱۹۹). ظفیر

تعالی احیانا الخ ملخصًا (۱) او شیطان ته الله تعالي تر قيامته پوري مهلت ورکړی چه ځوك دوكه كولي سي دوكه يې كړه: قال رب فانظرنی الی يوم يبعثون قال انك من المنظرين الی يوم الوقت المعلوم (۲) او په حديث شريف كي دي: ان الشيطان يجری من الانسان مجری الدم (۳) اوپه بل آيت كي دي: انه يری هو وقبيله من حيث لا ترونهم (۴) او چه كم سړي داسي وايي چه كم اوس په سوال كي درج دي نو دده ځخه به پوښتنه وكړل سي چه دده څه مطلب دي دمطلب دتحقيق ځخه بغير هيڅ حكم به نه سي كيدي. فقط

مور به په جهنم كي اوسيږو اوستا په جنت كي اوسيدل دي دا دكفر كلمه ده: **سوال**: (۱۷۶) چه كم سړي دا ووايي چه ځه مور به په جهنم كي اوسيږو اوته په جنت كي اوسيږه دی مسلمان پاته سو اوكه نه؟

جواب: دا دكفر كلمات دي چه په كار دي چه توبه وباسي اوتجديد داسلام اوتجديد دنكاح وكړي. (۵)

دا ويل چه دحلال او حرام سره زما هيڅ غرض نسته: **سوال**: (۱۷۷) دزيد دا ويل چه زموږ دحلالو او حرامو سره هيڅ غرض نسته او علماؤ ته بد ويل او تحقير يې كول كه چيري ځوك ووايي چه ته مسلمان يې نو ستا دپاره داسي بي باكانه او گستاخانه خبري نه دي كول په كار نو تردي پوري وايي چه ما گرسره مسلمان مه گڼه زه خو عيسايي يم وغيره وغيره نو دزيد دپاره څه حكم دي؟

جواب: دزيد كلمات بعضي حد دكفر ته رسيدلي دي او بعضي فسق اومعصيت دی ده لره توبه كول لازم دي او تجديد داسلام او تجديد دنكاح ضروري دي (۶). فقط

داحد الزوجين په ارتداد سره نكاح فسخ كيږي: **سوال**: (۱۷۸) يوي كافري كونډي چي ددي سره دمخكي كافر خاوند ځخه يو نابالغ هلك دی، داسلام دقبلولو ځخه وروسته ديوه مسلمان سره نكاح وكړه او دخپل نابالغ هلك نكاح يې ديوې نابالغی جينكۍ سره وكړه ددغه نوی مسلماني ښځي دمرگ ځخه وروسته ددي هلك دخپل كافر قوم سره يوځای سو او مرتد سو ددوی نكاح منعقده سوي وه اوكه نه اواوس نكاح ددوی قائمه پاته سوه

---

(۱) شرح فقه اكبر ص۱۸۵. ظفير

(۲) سوره ص : ۱۴. ظفير

(۳) مشكوة المصابيح. ظفير

(۴) سورة الاعراف. ظفير

(۵) من اهان الشريعة او المسائل التی لا بدمنها كفر (سرح فقه اكبر ص۲۱۵). ظفير

(۶) من اعتقد ان الايمان والكفر واحد فهو كافر ومن لا يرضی من الايمان فهو كافر ومن يرضی بكفر نفسه فقد كفر (عالمگيری مصری موجبات الكفر ج۲ ص۲۵۷. ط. ماجديه ج۲ ص۲۵۷). ظفير

که فسخ سوه؟

جواب: ددغه هلك نكاح منعقده سوي وه ليکن چه کله دغه هلك بيا مرتد سو او دکافرانو سره يوځای سو نو نکاح دده فسخ سوه: الا بان ابی او سکت فرق بينهما ولو كان الزوج صبيًا مميزا اتفاقا على الاصح (درمختار) قوله صبيا مميزا ای يعقل الاديان لان ردته معتبرة فكذا اباءه فتح الخ شامی. (۱)

مرتد به ولي قتليږي؟ **سوال**: (۱۷۹) داسلام حکم دي چه مرتد دارتداد ځخه وروسته تردري ورځو پوري بند وساتل سي که چيري دی مسلمان سو نو بهتره ده کنه قتل به کړل سي دا کم انصاف دي؟

جواب: په دين اسلام کي داخليدل بيا مرتد کيدل دا ښکاره بغاوت دي او نقصان دده ډير زيات دي ددي وجي چه دده دپاره صريح نص وارد سوي دي: من بدل دينه فاقتلوه، رواه البخاري (۲) ځکه چه دداسي باغي او سرکښ او فتنې خپرولو والا سزا دده دبيخ کندی ځخه پرته بل هيڅ نه سي کيدي او تفصيل ددي په دې رساله کي وګوری چه مولانا شبير احمد عثماني دمرتد دقتل په باره کي مفصله ليکلي ده اوباقي دا چه پرمرتد باندي عرض داسلام او کشف دشبهاتو اوتر دريو ورځو پوري بندول واجب دي يا مستحب ددي تفصيل دفقهي په کتابونو کي دي په درمختارکي دي که چيري مرتد مهلت طلب کړي نو ده ته به مهلت په دري ورځي سره دحبس ځخه ورکول کيږي اوکه چيري هغه مهلت طلب نه کړي نو فوراً دي قتل کړل سي. (۳)

دمسلمان په تکفير کي احتياط ضروري دي: **سوال**: (۱۸۰) په يو سرای کي دننه ديو فقير قبر دي ددغه سرای يوه دروازه به بنده ساتل کيده او نوري دروازې خلاصي يو سړي راغی دغه دروازه يې خلاصه کړه په دي باندي بعضو خلقو دا يقين وکی چه دا دروازه خودبخوده خلاصه سوي ده اوچه کم سړي ددروازې سره تيرسي نوپرهغه باندي به ددوزخ اور حرام سي او دي به جنتي سي. نو زيد، عمر، بكر ددي وجي ددغـــي دروازې سره تير

(۱) ردالمحتار باب نكاح الكافر ص۵۳۴. ط. س. ج۳ ص۱۸۹. ظفير

(۲) وګوری ردالمحتار باب المرتد ص۳۹۵. ظفير

(۳) من ارتد عرض الحاكم عليه الاسلام استحبابًا على المذهب لبلوغه الدعوة وتكشف شبهة بيان ثمرة العرض ويحبس وجوبا وقيل ندبا ثلاثة ايام يعرض عليه الاسلام فى كل يوم عنها ان استمهل اى طلب المهلة والا قتله من ساعته الا اذا اسلم بدائع (درمختار) قوله الحاكم اى الامام او القاضى قوله بيان ثمرة العرض الظاهر ان ثمرة العرض الاسلام والنجاة من القتل واما هذا فثمرة التاجيل ثلاثة ايام لان من انتقل عن الاسلام والعياذ بالله تعالى لابد له غالباً من شبهة فتكشف له ان ابداها فى هذه المدة قوله والا قتله اى بعد عرض الاسلام وكشف شبهته (ردالمحتار باب المرتد ج۳ ص۳۹۴. ط س. ج۴ ص۲۲۵). ظفير

سول نو دوی ته به کافر ویل کیږي اوکه نه او مذکوره دروازه بندول څنګه دي؟

جواب: مذکوره دروازه بندول ضروري دي چه دفتنو دروازه ده او په مذکوره عقیدي سره دغه پردروازه باندي تیریدل ناجائز دي لیکن زید، عمر، بکر ته به کافر نه سي ویل کیدی ځکه چه دمسلمان په تکفیر کي انتهایی احتیاط کول لازم دي په شرح فقه اکبر دي: وقد ذکروا ان المسئلة المتعلقة بالکفر اذا کان لها تسع وتسعون احتمالاً للکفر واحتمال واحد فی نفیه فالاولی للمفتی والقاضی ان یعمل بالاحتمال الثانی الخ (۱).

که الله تعالی هم راسي راته ووایي نو هم به خوراک ونه کړم دکفر کلمه ده: سوال: (۱۸۱) دزید کور والا خالدې خوراك پرینبووی په پوهه کولو باندي یې دا وویل که الله تعالي هم راسي او راته ووایي نو هم به خوراك ونه کړم په بهشتي زیور کي یې لیکلي دي چه په دي کلمي سره دغه زنانه مرتده سوه؟

جواب: په درمختار کي دي: وارتداد احدهما فسخ عاجل فللموطوئة ولو حکما کل مهرها لتاکده به ولغیرها نصفه لو ارتد ولا شيء من المهر والنفقة (۲) درمختار ملخصا، نو معلومه سوه که چیري وطي یا خلوت سوي وي او ددي ښځه وروسته مرتده سوه والعیاذ بالله نو پوره مهر دخاوند پرذمه لازم دي اوکه چیري ددخول اوخلوت څخه مخکی ښځه مرتده سوه نو مهر او نفقه ساقط سول او دتوبي کولو څخه وروسته بیا نکاح صحیح ده. فقط

یهود اونصارٰي چه په محمد ﷺ باندي یې ایمان نه دي راوړی کافران دي: سوال: (۱۸۲) یو عالم وایي چه یهود اونصارا چه قائل دتوحید دي کافران نه دي آیا دا خبره صحیح ده اوکه نه؟

جواب: یهود اونصاري چه په محمد ﷺ باندي یې ایمان نه دي راوړی کافران دي لکه څنګه چه دمسلم شریف په حدیث کي دي: وعن ابی هریرة رضی الله عنه قال قال رسول الله ﷺ والذی نفس محمد بیده لا یسمع بی احد من هذه الامة یهودی ولا نصرانیٌ ثم یموت ولم یؤمن بالذی ارسلت به الا کان من اصحاب النار (رواه مسلم) (۳) چه کم یهودي یا نصراني په نبي علیه السلام باندي ایمان راوړي هغه مسلمان او مؤمن سو دوی ته به

(۱) شرح فقه اکبر ملا علی قاری. ظفیر

(۲) الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب نکاح الکافر ج۲ ص۵۳۹. ط. س. ج۳ ص۱۹۳. ظفیر

(۳) اذا کان فی المسئلة وجوه توجب الکفر وواحد یمنعه فعلی المفتی المیل لما یمنعه ثم لو نیته ذالك فسلم والا لم ینفعه حمل المفتی علی خلافه (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب المرتد ج۳ ص۳۹۹. ط. س. ج۴ ص۲۳۰). ظفیر

یهود او نصاریٰ نه ویل کیږي اوکه چا په اعتبار دملت سابقه دوی ته یهودي یا نصراني وویل نو دا کفر نه دي. فقط

دمسلمان په تکفیر کي احتیاط ضروري دي: سوال: (۱۸۳) یو سړي یا یوه ښځه دغیر الله څخه مراد غواړي او په غیبي خبر باندي یې یقین نسته او په ټولو رسمونو دهندوانو عمل کوي او مسجد ته بد رد وایي دغه سړی دشریعت په نزد څه حکم لري کافر دي اوکه نه که چیري نکاح لري نو هغه فسخ سوه او که نه؟

جواب: چونکه حکم دشریعت دا دي چه په تکفیر دمسلمان کي دي تلواري نه کیږي اوکه چیري په ده کي یو کم سل (۹۹) وجوهي دکفر وي او یوه وجه داسلام وي او هغه هم ضعیفه وي مفتي لره میلان دعدم تکفیر طرف ته په کار دي کما صرح به الفقهاء بناءًا علیه په هرو دواړو صورتونو کي به تکفیر نه سي کیدي چه تاویل ممکن وي. (۱)

که په سبقت لساني سره غلطه خبره دخولي څخه ووزي نوکفر به نه وي: سوال: (۱۸۴) زید دا ویل غوښتل چه آیا تر الله پلار ډیر زیات دي لیکن په هیره او خطا سره دمذکوره کلمي پرځاي یې دا وویل: آیا الله زیات دی، دا کلمه بي اختیاره ووته بعضو علماؤ وویل چه زید کافر سوي دی او دده پرمنکوحه باندي طلاق واقع سو آیا په دي صورت کي زید کافر سو او دده پرزوجه باندي طلاق واقع سو اوکه نه؟

جواب: زید په دي صورت کي کافر نه سو علماؤ ته دکفر په فتوي ورکولو کي احتیاط په کار دي او تلوار نه دي کول په کار په حدیث شریف کي دي رفع عن امتی الخطاء والنسیان (۲) قال تعالی: لا تؤاخذنا ان نسینا او اخطأنا الآیة (۳) علاوه ددې څخه دا کلمه هسي هم مؤوله کیدی سي او دتاویل دامکان په صورت کي تکفیر دیوه مسلمان ناجائز دي (۴).

داستاد او والدینو عاق نه کافر کیږي: سوال: (۱۸۵) دوالدینو عاق یا داستاد عاق کافر دي اوکه نه؟

جواب: دوالدینو یا داستاد څخه عاق کافر نه دي فاسق اوګناهګاریږي. فقط

---

(۱) مشکوة المصابیح. ظفیر

(۲) سورة البقرة. ظفیر

(۳) لایفتی بکفر مسلم امکن حمل کلامه علی محمل حسن او کان فی کفره خلاف ولو کان روایة ضعیفة (ردالمحتار) اذا اراد ان یتکلم بکلمة مباحة فجری علی لسانه کلمة الکفر خطاء بلا قصد لا یصدقه القاضی وان کان لایکفر فیما بینه وبین الله تعالی (ردالمحتار باب المرتد ج۳ ص۳۹۹. ط. س. ج۴ ص۲۲۹). ظفیر

(۴) لایفتی بکفر مسلم امکن حمل کلامه علی محمل حسن (الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب المرتد ج۳ ص۳۹۹. ط. س. ج۴ ص۲۲۹). ظفیر

الله تعالي ته مور اوپلار ويل څنګه دي؟ سوال: (۱۸۶) غير مسلم بچيانو دمسلم او غير مسلم دتربيت دپاره رسالي وليکلي او چاپ يې کړي په سکول او مدرسو کي يې شائع کړي او په دي کي يوه فقره په داسي طريقې سره درج ده (الله تعالي خپل مور اوپلار دي) لهذا داسي تعليم دمسلمانانو دبچيانو دپاره جائز دي اوکه نه؟ او الله تعالي ته مور اوپلار ويل جائز دي اوکه نه؟ اوچه کله جائز نه وي نو دفتاوي عالمګيري دعبارت په موجب چي: يکفر اذا وصف الله تعالى بما لا يليق به اوسخر باسم من اسمائه او بامر من اوامره او انكر وعده او وعيده او جعل له شريكًا او ولدا او زوجة الخ په داقسم عقيدي او کلام سره به انسان کافر کيږي که نه؟ اوکه چيري مجازاً ددي قول اطلاق پرالله تعالي وکړل سي دا مزاحًا دټولو قومونو په نزد جائز دي اوکه نه يا داهل علمو دانبت الربيع البقل په مثل عالم ته ويل جائز دي او غيرعالم او جاهل ته يې ويل ناجائز دي؟

جواب: چونکه مراد دداسي الفاظو څخه حقيقي معني نه ده او الفاظ مجازاً دمربي او پرورش کننده په معني دي په دي وجه دي ته کفر ويل صحيح نه دي او قائل ته کافر نه دي ويل په کار. ليکن تکلم په داسي موهمو کلماتو سره نه دي په کار او ماشومانو ته تعليم دداسي کلماتو نه دي ورکول په کار ځکه چه ممکنه ده چه ددي څخه غلط فهمي وسي او په عقيده کي خرابي پيدا سي او دقائل دمسلمان اوصحيح العقيده کيدلو په وجه مجاز به ورڅخه مراديږي.

جوابِ صواب: اګر چه يو حديث د: الخلق عيال الله ، په لفظ سره راغلی دي ليکن بيا هم لوړه ذکر سوی فتوي درسته ده قال فى الدر المختار: ومجرد ابهام اللفظ ما لا يجوز كاف فى المنع اهـ (۱) وقال قبله نقلا عن الفاسى وقد اختلف العلماء فى جواز اطلاق الموهم فى معنى صحيح اهـ اقول ومقتضى الكلام ائمتنا المنع من ذالك فيما ورد عن النبى ﷺ . فقط

رسول الله ﷺ معبود دي، دا دشرک عقيده ده: سوال: (۱۸۷) يو سړي دکلمي شريفي دا معني کړيده چه نسته ځوک معبود مګر الله او هغه ځوک دي محمد رسول الله دی، نو په داسي سړي پسي اقتداء جائز ده اوکه نه؟ او دتجديد دنکاح په باب څه فتوىٰ ده؟

جواب: ترجمه دکلمي طيبي دا ده چه دالله تعالي څخه ماسوا هيڅوک معبود نسته محمد ﷺ دالله تعالي رسول دي، داترجمه کول چه هغه ځوک دي محمد رسول الله دی، دا ترجمه غلطه ده او دا عقيده چي محمد رسول الله معبود دي صريح شرک دي (۲) په دغه

(۱) مشكوة باب الشفقة على الخلق ص۴۲۵. ظفير

(۲) قال الله تعالى فى القرآن "قل انما انا بشر مثلكم يوحى الىّ انما الهكم اله واحد (سورة الكهف). ظفير

سړي پسي لمونځ صحيح نه دي داسي عقيدي والا مرتد دي نکاح دده ختمه سوه دتوبي او تجديد داسلام څخه علاوه تجديد دنکاح ضروري دي قال الله تعالى: لاتتخذوا الهين اثنين انما هو اله واحد ([1]). فقط

دا ويل چه الله تعالي پرانسانانو باندي قادر نه دي کفر دي: **سوال**: (۱۸۸) زيد دا کلمات وويل چه الله تعالي پرهر شي باندی قادر دي ليکن پرانسان باندي قادر نه دي او بعضي شيان بغير دليکلو دتقدير څخه وي او باجه هر قسم په غرض داعلان په ودونو کي جائز ده، علماؤ او دلمانځه او روژې پابندو خلقوته اکثره بد رد وايي په داسي کلماتو سره کفر عائد کيږي اوکه نه؟ او دده منکوحه په نکاح کي پاته سوه که څنګه؟

جواب: دا کلمات چه زيد وايي چه الله تعالي قادر علي الاطلاق ته وايي او دتقدير څخه منکر دي او باجه په ودونو کي جائز ګڼي ددي څخه بعضي کارونه دکفر او ارتداد دي ([2]) او فسق او معصيت دي لکه دباجی دجواز قول نودغه مذکوره سړي ته تجديد دايمان توبه او تجديد دنکاح کول په کار دي. فقط

دښکنځل کوونکي توبه قبليږي: **سوال**: (۱۸۹) يو سړي يو سيد ته داسي قسم ښکنځل وکړل چه سيد ته په دي باندي يو مولوي صاحب دا حکم وکړی چه شاتم دي کفاره زر غريبانو ته روپۍ ورکړي تجديد داسلام او تجديد دنکاح دي وکړي په اسلام کي دي داخل سي آيا دشاتم توبه قبليږي که نه؟ او دغه مذکوره سړی به لمونځ کوي او که نه؟

جواب: صحيح دا ده چه توبه دده قبليږي ده ته په کار دي ([3]) چه توبه وکړي تجديد داسلام تجديد دنکاح وکړي بس دومره قدر کافي ده اوپه غريبانو باندي خوراك كول ضروري نه دي داسلام راوړلو او لمونځ کولو څخه به دي نه بنديږي. فقط

داهل سنت عقيده ده چي معـــاويه ﷺ جليل القدر صحابی دي: **سوال**: (۱۹۰) داهل سنت

([1]) وقد ارسل الله تعالى رسلا من البشر الى البشر الخ، اول الانبياء آدم وآخرهم محمد عليهم السلام الخ (شرح عقائد نسفي ص۹۴). ظفير

([2]) اذا اطلق الرجل كلمة الكفر عمدا لكنه لايعتقد الكفر الخ قال بعضهم يكفر وهو الصحيح عندی لانه استخف بدينه الخ والحاصل ان من تكلم بكلمة الكفر هازلا او لاعبا كفر عند الكل ولا اعتبار باعتقاده (ردالمحتار باب المرتد ج۳ ص۳۹۳. ط. س. ج۴ ص۲۲۴) ولا يخرج عن علمه وقدرته شیء الجهل بالبعض والعجز عن البعض نقص الخ النصوص القطعية ناطقة بعموم العلم وشمول القدرة فهو بكل شیء عليم وعلى كل شیء قدير (شرح عقائد النسفية ص۳۱ – ۳۲). ظفير

([3]) والكافر لسب نبی من الانبياء فانه يقتل حدا ولا تقبل توبته مطلقا الخ لكن صرح فی آخر الشفاء بان حكمه كالمرتد ومفاده قبول التوبة (درمختار) وافاد انه حكم الدنيا اما عند الله تعالى فهو مقبولة كما فی البحر الخ واخطاء فی فهمها لان المراد بها ماقبل التوبة والا لزم تكفير كثير من الائمة المجتهدين القائلين بقبول توبة ولسقوط القتل بها عنه (ردالمحتار باب المرتد ج۳ ص۴۰۰ – ۴۰۱ ط. س. ج۴ ص۲۳۱). ظفير

والجماعت یوکس وایي چه حضرت حسن ﷜ ته چي کم زهر ورکړل سوي وه په هغه کي دحضرت معاویه ﷜ سازش هم وو او بل دا چه کم وخت امیر معاویه پرمخصوص مقام باندي لړم چیچلي وو نو هغه وخت ده دعبید الله دمور سره بد فعلي کړي وه چه دهغه څخه عبید الله پیدا سو، په دي صورت کي شرعًا څه حکم دي؟

جواب: معاویه رضي الله عنه دنبي کریم ﷺ خاص صحابي دي او نبي ﷺ دده دپاره خاص دعا کړیده بشارت یي ورکړي وو کاتب دوحي وو ([1]) ددوی په شان کي گستاخانه خیال لرل تهمت لگول سخته گناه او معصیت دي دغه سړی فاسق او بدکار دي ([2]) چه ځوك داسي عقیده ساتي دهغه روژه اولمونځ هیڅ نه قبلیږي دی په حقیقت کي رافضي دی ده لره دداسي خیال څخه توبه ایستل په کار دي. فقط

<u>په رمضان المبارک کي هم مشرک ته په قبر کي عذاب ورکول کیږي</u>: **سوال**: (۱۹۱) په رمضان المبارك کي عذابِ قبر صرف گناهگارانو مومنانو ته معاف کیږي که حقیقي کافرانو ته هم؟

جواب: فی الحدیث: ما من مسلم یموت یوم المجمعة او لیلة الجمعة الا وقاه الله فتنة القبر ([3]) (الحدیث) نو دمسلم دقید څخه معلومه سوه چه دکافرانو دپاره داحکم نه دي.

<u>چه څه کیږي دالله تعالي دطرف څخه کیږي</u>: **سوال**: (۱۹۲) یو صاحب فرمایي چه څه کیږي من جانب الله تعالي کیږي؟

جواب: دا صحیح دي چه څه کیږي من جانب الله تعالي کیږي: قل کل من عند الله ([4]) لیکن دبنده ټول أعمال دخیر او شر دده په کسب وي ددي وجي جزا او سزا پرهغه باندي مرتب ده. ([5]) فقط

<u>دالله تعالي او رسول ﷺ څخه دجدایي اظهار کلمه دکفر ده</u>: **سوال**: (۱۹۳) زید دخپلي بي

([1]) عن النبی ﷺ انه قال لمعاویة اللهم اجعله هادیا مهدیا واهد به رواه الترمذی (مشکوة باب جامع المناقب ص۵۷۹) وهو احد الذین کتبوا لرسول الله ﷺ الوحی (الاکمال فی اسماء الرجال ص۲۱۷) وقال رسول الله ﷺ الله فی اصحابی لا تتخذوهم غرضا من بعدی فمن احبهم فبحبی احبهم ومن ابغضهم فببغضی ابغضهم ومن اذاهم فقد اذانی ومن اذانی فقد اذی الله ومن اذی الله فیوشك ان یاخذه رواه الترمذی (ایضًا ص۵۵۴). ظفیر

([2]) وترد شهادة من یظهر سب السلف لانه یکون ظاهر الفسق الخ وقال الزیلعی اویظهر لسب السلف یعنی الصالحین منهم وهم الصحابة والتابعون لان هذه الاشیاء تدل علی قصور عقله وقلة مروته ومن لم یمتنع عن مثلها لا یمتنع عن الکذب عادةً (ردالمحتار باب المرتد ط. س. ج۴ ص۲۳۲). ظفیر

([3]) مشکوة باب الجمعة ص۱۲۱. ظفیر

([4]) سورة النساء رکوع : ۱۱. ظفیر

([5]) وللعباد افعال اختیاریة یثابون بها ان کانت طاعة ویعاقبون علیها ان کانت معصیة لا کما زعمت الجبریة انه لا فعل للعبد اصلا وان حرکاته بمنزلة حرکات الجمادات (شرح العقائد النسفیة ص۵۹). ظفیر

بې سره بلا وجه جګړه کوله بکر دي پوهه کړی او دقرآن شريف آيت يې ولوستی په دي باندي زيد وويل چه موږ ته نه دي په کار ستا ايت ستا الله تعالي او رسول الله ﷺ، اوس په زيد باندي توبه وايستل سي که نکاح واپس کړل سي؟

جواب: دا کلمه چه دزيد دژبې څخه وتلي ده کلمه دکفر ده په زيد باندي دي توبه وايستل سي او تجديد داسلام او تجديد دنکاح دي وکړل سي. [1] فقط

بدعتي فاسق دي، دمشرک بخښنه به نه کيږي: **سوال**: (۱۹۴) دمشرك بخښنه ستـه اوکه نه؟ بدعتي دکم امر مستحق دي؟

بدعت څه ته ويل کيږي؟

جواب: دکافر او مشرك بخښنه نسته [2] لکه څنګه چه الله تعالي فرمايلي دي: ان الله لا يغفر ان يشرك به ويغفر ما دون ذالك لمن يشاء [3] او بدعت په دين کي نوي خبرو را ايستلو ته ويل کيږي او بدعتي مخالف او تارك سنت دي بدعتي عاصي او فاسق دي مستحق دعذاب دي ليکن کافر نه دي. فقط

جادو برحق دي: **سوال**: (۱۹۵) زيد وايي چه زه دجادو قائل نه يم آيا دزيد وينا غلطه ده که صحيح؟ پرهر صورت دزيد دپاره څه حکم دي؟

جواب: داهل سنت والجماعت مذهب دا دي چه جادو برحق دي ولي چه په نبي ﷺ باندي بعضو يهودو جادو کړي وو او په دوی ﷺ باندي يې اثر وسو او بيا الله تعالی هغه دفع کړی په تفسيرِ خازن کي دي ومذهب اهل السنة ان له وجوداً وحقيقتا والعمل به الکفر الخ [4] نوزيد چه داسي وايي ده ته په کار دي چه داهل سنت والجماعت تحقيق وکړي او دعلماؤ داهل السنت څخه معلومات وکړي بغير دعلم څخه څه رايه خپلول صحيح نه دي په حديث شريف کي دي: انما شفاء العی السوال [5] الحديث. فقط

تارک الصلوٰة فاسق دي: **سوال**: (۱۹۶) تارك الصلوت کافر دي که فاسق؟ که چيري فاسق وي نو دمن ترك الصلوة متعمداً فقد کفر، به څه معني وي؟

جواب: تارك الصلوة فاسق دي او د: فقد کفر معني دا سوه چه فقد قرب. فقط

---

[1] من لا يرضی من الايمان فهو کافر ومن قال لا ادری صفة الاسلام فهو کافر (عالمګيری ج۲ ص۲۵۷. ط. ماجديه ج۲ ص۲۵۷). ظفير

[2] والله لا يغفر ان يشرك به باجماع المسلمين الخ ويغفر ما دون ذلك لمن يشاء الخ والايات والاحاديث فی هذا المعنی کثيرة (شرح عقائد نسفی ص۸۰). ظفير

[3] سورة النساء : ۱۵. ظفير

[4] وګوری: تفسير خازن ج۴ ص۴۲۹. ظفير

[5] مشکوة کتاب العلم ص۳۲. وباب التيمم ص۵۵. ظفير

کتاب اللقطه

لويدلي شيان او دهغو سره متعلق احکام او مسائل

<u>په لقطه کي که دمالک او وارثانو درک ونه لگيږي نو دهغه دپاره به صدقه کړل سي</u>: سوال: (۱) زيد يو دوکان ته راغی پر دغه دوکان باندي يې په اتفاقي ډول سره **۵۲** تولي سپين زر پريښودل او ورڅخه هير سول چه کله ورته ياد سول ددوکاندار څخه يې پوښتنه وکړه دوکاندار صفا انکار وکی او دوکاندار خپل کار ورڅخه واخيستی چه دهغه څلويښت کاله وسول دهغه څخه وروسته دغه دوکاندار مالداره سو چه کله ناروغ سو نو ده خپل اولاد ته وصيت وکی چه دغه سپين زر مالك ته ورکړي اوس ډيره موده تيره سوه ددغو سپينو زرو دمالك هيڅ پته او نښان نسته او داهم نه ده معلومه چه هغه هندو وو که مسلمان اوس وارثانو ته څه کول په کار دي او هغه دوکاندار چه وصيت يې وکی او مړ سو ددغه قرض څخه په څه طريقه خلاصيدي سي؟

جواب: په داسي حالت کي چه دمالك پته نه لگيږي او نه دده وارثان معلوم دي په دغه مقدار باندي سپين زر په فقيرانو مسکينانو باندي دي تقسيم کړي اميد دي چه په داسي کيدو سره به دحق العباد څخه خلاص سي. دسپينو زرو دا صدقه به دمالك دطرف څخه وگڼل سي او دصدقي څخه وروسته که دمالك يا دهغه دوارثانو پته ولگيږي ([1]) نو ده ته به وويل سي، که چيري په صدقه باندي راضي سو نوصحيح ده کنه نوده ته به خپل مال ورکوي. فقط

<u>لويدلي شي لقطه ده په مسجد کي يې لگول درست نه دي</u>: سوال: (۲) که چيري په مسجد کي ديوه نامعلوم سړي کپړي او يو شي لويدلی پيدا سو نو دغه شی به په مسجد کي صرف کيدي سي او که نه؟

جواب: دالقطه ده ددي اعلان کول په کاردي دمسجد په مصرف کي يې نسي راوستی. ([2])

<u>که لويدلی شي پيداسي نو هغه لقطه ده اعلان به يې کوي</u>: سوال: (۳) زيد ته په لاره کي يو

([1]) اللقطه هی رفع شیء ضائع للحفظ علی الغیر لا للتملیك الخ دفعها لصاحبها ان امن علی نفسه تعریفها الخ وعرف ای نادی علیها حیث وجدها وفی المجامع الی ان علم ان صاحبها لا یطلبها او انها تفسد ان بقیت کالاطعمة والثمار کانت امانة الخ فینتفع الرافع بها له لو فقیرا والا تصدق بها علی فقیر الخ فان جاء مالکها بعد التصدق خیر بین اجازة فعله ولو بعد هلاکها وله ثوابها او تضمینه الخ (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار کتاب اللقطة ج۳ ص۴۳۹ – ۴۴۳. ط. س. ج۴ ص۲۷۲). ظفیر

([2]) اللقطه هی رفع شیء ضائع للحفظ علی الغیر لا للتملیك ندب رفعها لصاحبها ان امن علی نفسه تعریفها والا فالترك اولی وان اخذ لنفسه حرم الخ فینتفع الرافع بها لو فقیر والا تصدق بها علی فقیر الخ (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار کتاب اللقطه ج۳ ص۴۳۹. ط. س. ج۴ ص۲۷۲). ظفیر

پروت شي په مخه ورغی هغه يې را واخيستی نو په خپل خرڅ کي يې راوستی سي اوکه نه؟

جواب: دا لقطه ده ددي تعريف دي وکړي يعنی په مسجد يا بازار کي دي اعلان وکړي او غوښتنه دي وکړي چه دچا څخه څه شي ورك سوي وي نو ښکاره يې کړی (۱). فقط واللہ اعلم

داعلان څخه وروسته که هم مالک پيدا نه سي نو دلقطې څه حکم دي؟ **سوال**: (۴) ددي مدرسي په احاطه کي په هغه کونج کي چيري چه دمدرسې خاکروبان دکار څخه دفارغ کيدو څخه وروسته کښيني يو ځادر پروت پيداسو ددي واقعی ددوه کالو څخه زيات وسول يو څو ځله يې اعلان هم وکی ليکن څوك مالك ددي رانغی دا شي خرڅول او ددي قيمت په مدرسه کي داخلول جائز دي اوکه نه؟

جواب: صرف په طلباؤ باندي دي دا قيمت خرڅ کړل سي دا درست دي. فقط

دلقطي اعلان پکار دی او ددی په روژه مات کي مصرف کول درست نه دی: **سوال**: (۵) په مسجد کي دماخوستن دلمانځه څخه وروسته نوټ يا روپۍ وغيره پيدا سي او معلوم نه وي چه دچا دي نو دغه شي په روژه مات کي لګول درست دي اوکه نه؟ او ترڅومره مودي پوري انتظار کول په کار دي او دمسجد په جائيداد کي مصرف کول جائز دي اوکه نه؟

جواب: حکم ددغه روپۍ او نوټ دلقطي دي او دلقطي حکم دا دي چه ترڅومره مودي پوري دهغه تعريف وکړل سي چه پته ولګيږي چه ددي مالك به نا اميده سوي وي او اوس به طلب نه کوي او تعريف دا دي چه پرهغه موقع باندي چه دکم ځاي څخه دغه شي پيدا سوي وي دخلقو څخه دي پوښتنه کوي اوتحقيق دي کوي چه دچا څه شي ضائع سوي وي نو رادي سي او بيان دي وکړي چه کله دمالك دپيدا کيدو څخه نا اميدي وسي او په ظن غالب سره دا ګمان وسي چه ددي مالك به اوس ددي تلاش پريښودلی وي او هغه به اوس ددي طلب نه کوي نوکه چيري خپله محتاج وي نوپه خپل مصرف کي دي راولي کنه وي نو په فقيرانو باندي دي صدقه کړي ددي څخه وروسته که چيري مالك راسي نوکه چيري په دغه صدقه وغيره باندي راضي سي نو صحيح ده کنه نو هغه به دخپل طرف څخه ورکوي الحاصل همدا تفصيل په دي صورت کي دي دا ناجائز دي چه په روژه مات داولګول سي. ځکه چه په روژه مات کي فقراء اواغنياء ټول وي او دمسجد

---

(۱) وعرف اى نادى عليها حيث وجدها وفي المجامع (درمختار) فقال الحلواني يكفى عن التعريف الشهادة عند الاخذ بانه اخذها ليردها ومنهم من قال ياتي على ابواب المسجد وينادى قوله اى نادى اشار ان المراد بالتعريف الجهر به كما فى الخلاصة (ردالمحتار كتاب اللقطه ج۳ ص۴۴۱. ط. س. ج۴ ص۲۷۸). ظفير

دجائیداد آمدني بغیر داستحقاق څخه په خپل مصرف کي راوستل ناجائز دي. ([1])

دمالک څخه چه کله نا اُمیدي وسي نو لقطه صدقه کول په کار دي: **سوال**: (۶) ماته په ریل کي دسپینو زرو یو پروت اهاړ (امیل) په لاس ما هرڅومره چه مالك تلاش کړی لیکن پته یې ونه لګیده ددي دري کاله تیر سول چه زما سره موجود دي ددي دپاره څه حکم دي؟

جواب: په داسي صورت کي حکم دا دي چه کم وخت دمالك دپیدا کیدو څخه نا امیدي وسي نو هغه دي په فقیرانو باندي صدقه کړي. ([2])

دمالک په نه پیدا کیدو باندي به لقطه صدقه کوي: **سوال**: (۷) زید په لاره کي یوه پرته کپړه پیدا کړه او مالك دهغې معلوم نه دي په دغه کپړه باندي څه کول په کار دي؟

جواب: اول دي ددغي کپړي تعریف باقاعده وکړي یعني دمالك تلاش دي وکړي که چیري پیداسو نو وردي کړي که نه نو چه کله دمالك دپیدا کیدو څخه نا امیدي وکړل سي نو په مسکینانو دي صدقه کړي. ([3])

دلقطي شرعي حکم: **سوال**: (۸) قاضي علیم الدین مرحوم رئیس دشاملي په خپل ژوند کي داوسیدو مکانات او زرعي جائیداد ددار العلوم دیوبند په نوم وقف کړل دقاضي صاحب دوفات څخه وروسته نور سامان لکه نقدي او نور جائیداد وغیره وارثانو ته ورسیدل اوس دیو اوږد وخت څخه وروسته په هغه وقف سوي مکان ددار العلوم دیوبند کي دیو کور دننه مبلغ ۳۵۰ روپی سکه درائج الوقت، په کټوی کي یوه ګړی (ساعت) پیداسوه لهذا په دي صورت کي مذکوره رقم چاته ورسیږي آیا واقف ته یا دواقف مرحوم وارثانو ته؟

جواب: ددغه رقم حکم دلقطي په شان دي اودلقطي حکم دا دي که چیري څوك مالك ددي

---

[1] فینتفع الرافع بها لو فقیرا والا تصدق بها علی فقیر وفی الغنیة لو رجی وجود المالك وجب الایصاء فان جاء مالکها بعد التصدق خیر بین اجازة فعلیه ولو بعد هلاکها او تضمینه (الدر المختار علی هامش ردالمحتار کتاب اللقطه ج۳ ص۴۴۲. ط. س. ج۴ ص۲۷۹). ظفیر

[2] اللقطة الخ فان اشهد علیه بانه اخذه لیرده علی ربه ویکفیه ان یقول من سمعتموه ینشد لقطه فدلوه علی وعرف ای نادی علیها حیث وجدها وفی المجامع الی ان علم ان صاحبها لا یطلبها او انها تفسد ان بقیت کالاطعمة والثمار الخ فینتفع الرافع بها لو فقیرا والا تصدق علی فقیر فان جاء مالکها بعد التصدق خیر بین اجازة فعله ولو بعد هلاکها او تضمینه (درمختار) قوله الی ان علم الخ لم یجعل للتعریف مدة اتباعا للسرخسی فانه بنی الحکم علی غالب الرأی فیعرف القلیل والکثیر الی ان یغلب علی رأیه ان صاحبه لا یطلبه (ردالمحتار ج۳ ص۴۴۱ ط. س ج۴ ص۲۷۸). ظفیر

[3] وعرف ای نادی علیها حیث وجدها وفی المجامع الی ان علم ان صاحبها لا یطلبها او انها تفسد ان بقیت کالاطعمة والثمار کانت امانة الخ فینتفع الرافع بها لو فقیرا والا تصدق علی فقیر الخ (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار کتاب اللقطه ج۳ ص۴۴۱. ط. س. ج۴ ص۲۷۸). ظفیر

معلوم نه وي نو هغه دفقراؤ حق دي پر فقراؤ باندي به صدقه كيږي نوكه چيري دوارثانو څخه څوك دعوي وكړي چه دا زما دمورث اينبودل سوي شي

دي او علامات او نښي يې وښيي نو وارثانو ته به وركول كيږي كنه نو په فقيرانو باندي به صدقه كيږي. (1) فقط

دمالک په نه پيدا كيدو به لقطه صدقه كړي: **سوال**: (۹) په مسجد كي يو جاى نماز او دپاڼ يو دبلى پيدا سو مالك يې معلوم نه دي نو په دې سره به څه كيږي؟

جواب: دكم شى دمالك دپيدا كيدو څخه چي نا اُميدي وسي نو په فقيرانو او مسكينانو باندي به صدقه كړل سي. (2)

داعلان څخه وروسته چي كله دمالک څخه نا اميدي وسي نو محتاج انسان دلقطي استعمال كولى سي: **سوال**: (۱۰) كه چيري يو سړى يو شي پروت پيدا كړي تر ۴۰ ورځو پوري ددي دمالك پته ونه لګيږي نوكه چيري هغه غريب وي نو دخپل ځان سره يې اينښوولي سي اوكه نه؟

جواب: دتعريف څخه وروسته كه چيري پيدا كوونكي محتاج وي نو دځان سره يې اينښودي سي اوكه چيري وروسته مالك پيدا سي نو ده ته اختيار دي چه پيدا كوونكي معاف كوي اوكه دده څخه ضمان اخلي. (3)

دمالک په نه پيدا كيدو سره به په لقطي څه كوي؟ **سوال**: (۱۱) ديو لاپته سړي څخه خپله چترۍ (سايوان) هير سو چه دهغه تقريبًا دوې مياشتي وسوي تر اوسه پوري نه دي راغلي هره جمعه چترۍ دمنبر سره نژدي ځړول كيږي او په لوړ آواز اعلان كول كيږي اوس په دغه چترۍ سره بايد څه وكړل سي؟

جواب: دغه چترۍ دي اوس يو محتاج ته صدقه كړل سي. يا خپله پورته كوونكي دچترۍ كه چيري محتاج وي نو اينښودلي يې سي بيا كه چيري دمالك پته ولګيده نو هغه مالك ته اختيار دي چه يا هغه صدقه جائز وساتي ياددي معاوضه واخلي، كذافي الدر المختار. (4) فقط

دلقطي مال به په مسجد كي نه مصرفوي: **سوال**: (۱۲) كه چيري يوسړي يوشى په يوه عامه

---

(1) ايضا، ط. س. ج۴ ص۲۷۸. ظفير

(2) وعرف الى ان علم ان صاحبها لا يطلبها او انها تفسد الخ فينتفع الرافع بها لو فقيرا والا تصدق على فقير (درمختار) لان الغنى لا يحل لـه الانتفاع بها الا بطريق القرض لكن باذن الامام (ردالمحتار كتاب اللقطة ج۳ ص۴۴۱. ط. س. ج۴ ص۲۷۸). ظفير

(3) ايضا. ط. س. ج۴ ص۲۷۸. ظفير

(4) فينتفع الرافع بها لو فقيرا والا تصدق على فقراء الخ فان مالكها بعد التصدق خير بين اجازة فعله بعد هلاكها وتضمينه الخ (الدر المختار على هامش ردالمحتار كتاب اللقطه ج۳ ص۴۴۲. ط. س. ج۴ ص۲۷۹). ظ

لاره كي پروت پيدا كړي او دعامي لارى په وجه يې دهغه مالك تلاش نه كړي نو دغه شي خرڅولى او دمسجد په مصرف كي راوستلى سي اوكه نه؟

جواب: چه كله دتحقيق او تلاش باوجود دمالك پته ونه لګيږي نو حكم دا دي چه پيدا كوونكي دغه شى يو محتاج ته وركړي اوكه چيري خپله محتاج وي نو خپله دي په خپل كار كي ولګوي بيا كه چيري مالك پيدا سي او هغه دصدقي أجازت وركړي نو صحيح ده كه نه نو دغه سړي ته به خپل تاوان دخپل طرف څخه وركوي اوپه مسجد كي به دا نه مصرف كوي. (١) فقط

<u>دتلاش څخه وروسته دمالک پته ونه لګیده نوڅه به کوي؟</u> سوال: (۱۳) زيد دحج دپاره كعبة الله ته ولاړى په واپسى كي يې په غلطى سره ديو بل كس يوه بورى چه په هغې كي مختلف قسم لوښي دي دځان سره راوړه پردغه بورى باندي ديو سړى نوم هم ليكل سوي دي ليكن څه تفصيلي پته يې ونه لګيده چه دهغه په ذريعه دده مال ده ته واپس كړل سي. اوس كور ته په رسيد وسره زيد اعلان وكى چه دا قسم بورى په غلطى سره ما راوړيده چه دچا وي نو وا دي خلي ليكن ددي دمالك پته نه لګيږي ددي متلعق حكم شرعي څه دي؟

جواب: ددي حكم دلقطي دى كه چيري دتلاش څخه وروسته دمالك پته معلومه نه وي نو حكم ددې دادي چه ددغه ټولو شيانو فهرست وليكي دخپل ځان سره دي كنبيږدي او دغه شيان دي فقراؤ ته صدقه كړي اوكه چيري خپله محتاج وي نو خيله يې هم په خپل لګښت كي راوستلي سي. بيا كه چيري يو وخت دمالك پته معلومه سي نو ده ته اختيار دي چه يا دي صدقه جائز وګڼي يا دي قيمت ددغه شيانو دپيدا كوونكي څخه واخلي. (٢) فقط

<u>دمسلمان مړي دجيب څخه رقم راووزي نو څه به په کوي؟</u> سوال: (۱۴) دريل په تصادم سره ډير كسان مړه سوي وه چه كله يې دوي ته غسل وركول شروع كړل نو ديوه مسلمان مړي سره څه روپۍ راووتي او ددغه مړي پته او نښه هيڅ معلومه نه ده چه ددوى وارثانو ته هغه روپۍ وركړل سي نو په مسجد كي دغه روپۍ خرچ كول درست دي اوكه نه؟

---

(١) عرف الى ان علم ان صاحبها لا يطلبها الخ فينتفع الرافع بها لو فقيرا والا تصدق على فقير (ايضًا ج۳ ص۴۴۲ – ۴۴۳. ط. س. ج۴ ص۲۷۸). ظفير

(٢) عرف الى ان علم ان صاحبها لا يطلبها او انها تفسد ان بقيت كانت امانة الخ فينتفع الرافع بها لو فقيرا والا تصدق على ففير الخ فان جاء مالكها بعد التصدق خير بين اجازة فعله او تضمينه (الدرالمختار على هامش ردالمحتار كتاب اللقطه ج۳ ص۴۴۱. ط. س. ج۴ ص۲۷۸). ظفير

جواب: حکم دا دي چه داسي مال دي په فقيرانو صدقه کړل سي. په مسجد کي دي ونه لګول سي ثواب ددي به مړي ته ورسيږي. فقط

ترڅه وخته پوري چه کله دمالک پته ونه لګيږي نو دلقطي بيع جائز ده: **سوال:** (۱۵) يو نيم کال مخکي يو سړي په ريل ګاډي کي يو ټرنك پيدا کی ددي هيڅوك وارث پيدانه سو په دي کی شل روپۍ څه کپړي يا يو لاسي مشين دګنډلو پيدا سو اوس هغه مشين خرڅول غواړي زه يې رانيوی سم اوکه نه؟

جواب: چه کله تردومره وخت پوري دمالك هيڅ پته ونه لګيده نو ددي خرڅول او اخيستل درست دي ليکن ددغه خرڅونکي دپاره دا حکم دي که چيري هغه خپله محتاج نه وي نو دغه قيمت او دغه رنګه باقي سامان او نقد دي په فقيرانو باندي صدقه کړي اوکه چيري هغه خپله محتاج وي نوخپله هم په خپل مصرف کي يې راوستی سي او بيا دمالك دپيدا کيدو څخه وروسته ده ته اختيار دي که صدقه جائزه ساتي اوکه ددي معاوضه اخلي. (۱)

دبزرګ دمزار څخه يو شی په لاس راغی نو په هغه سره به څه کوي؟ **سوال:** (۱۶) که چيري يو سړي ديوه بزرګ پر مزار باندي يو شي پيداکی نو هغه دغه پيدا سوي شي په خپل خرچ کي راوستی سي اوکه نه چه کله ددي مالك معلوم نه وي؟

جواب: دپيدا سوي شي متعلق حکم شرعي دا دي چه دتعريف څخه وروسته او داعلان ضروري څخه وروسته په يو محتاج باندي صدقه کړل سي اوکه خپله محتاج وي نو خپله په خپل مصرف کي دي راولي بيا که چيري مالك پيدا سي نو ده ته اختيار دي چه هغه دغه صدقه جائز ګڼي اوکه دپيدا کونکي څخه دهغه معاوضه اخلي. (۲)

دغلا رقم پيدا سو دهغه مصرف څه دي؟ **سوال:** (۱۷) زيد څه نقد غلا کړل سوي چه دقريني څخه دکافر معلوميدې دښار څخه دباندي پيدا کړي اومالك يې معلوم نه دي اوس که چيري زيد ددي اظهار کوي نو ده ته دخپل عزت بيره ده چه په ده باندي څوك دعوي وکړي اوس شرعًا څه حکم دي؟

جواب: په پټه دي دمالك پته ولګوي که چيري معلوم سي نو په يوه ذريعه دي هغه ته ور

---

(۱) عرف الی ان علم ان صاحبها لا يطلبها او انها تفسد ان بقيت کانت امانة الخ فينتفع الرافع بها لو فقيرا والا تصدق علی فقير الخ فان جاء مالکها بعد التصدق خير بين اجازة فعله او تضمينه (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار کتاب اللقطه ج۳ ص۴۴۱. ط. س. ج۴ ص۲۷۸). ظفير

(۲) عرف ای نادی عليها حيث وجدها او فی المجامع الی ان علم ان صاحبها لا يطلبهما الخ فينتفع الرافع بها لو فقيرا والا تصدق علی فقير الخ فان جاء مالکها بعد التصدق خير بين اجازة فعله ولو بعد هلاکها وتضمينه (الدر المختار علی هامش ردالمحتار کتاب اللقطه ج۳ ص۴۴۱. ط. س. ج۴ ص۲۷۸). ظفير

ورسوي اوكه چيري مالك معلوم نه وي نو په فقراؤ دي صدقه كړي او كه پيدا كولو والا خپله محتاج وي نوخپله په خپل خرڅ كي يې هم راوستلی سي، والتفصيل في كتب الفقه. (۱)

په غير آباد ځاى كي رقم پيداسو نو هغه هم دلقطي په حكم كي دي: **سوال**: (۱۸) دزيد په ګاونډ كي يو هندو اوسيدى اته كاله وسوه چه ټول مړه سوي دي هيڅوك نه دي پاته پكښي سراى خالي دي دمرمت څخه وروسته ديوال وغيره هم نړيدلي دي دزيد بي بي ته هلته په يوه كوزه كي شپيته روپۍ پيدا سوې دا په خپل خرڅ كي راوستي اوكه نه؟

جواب: ددي حكم دلقطي دي او دلقطي حكم دا دي چه په دغه ځاي او نورو مسامعو كي دي ددي تعريف وكړي يعني تر يوڅه وخته پوري اوپه ظاهر الروايت كي تر يوه كاله پوري آواز به كوي او تلاش به كوي چه دچا څه شي ضائع او ورك سوي وي نو ودي ښيي، ښځه كه چيري خپل دا كار ونه كړي نو دنورو په ذريعه دي وكړي بيا كه چيري مالك پيدا سو نو دهغه خوښه ده كه دده كار جائز ولري اوكه دده څخه تاوان واخلي، په درمختار كي دي: وعرف اى نادى عليها حيث وجدها وفى المجامع الى ان علم ان صاحبها لا يطلبها الخ فينتفع الرافع بها لو فقيراً والا تصدق على فقير الخ فان جاء مالكها بعد التصدق خير بين اجازة فعله او تضمينه. (۲)

لقطه غني نه سي استعمالولي: **سوال**: (۱۹) لقطه غني استعمالولی سي اوكه نه؟

جواب: لقطه غني خپله نه سي استعمالولي. (۳)

كه چيري خپله محتاج وي نو لقطه استعمالولي سي: **سوال**: (۲۰) كه يو چاته پرمځكه باندي پرتي څه نقدي روپۍ ورپيدا سوي نو په خپل خرڅ كي يې راولي كه پرمحتاجو يې صدقه كړي؟

جواب: پرمحتاجو باندي دي صدقه كړي او كه چيري خپله محتاج وي نو خپله يې هم مصرف كولي سي. (۴)

---

(۱) وترد العين لو قائمة وان باعها او وهبها لبقائها على ملك مالكها (درمختار) قال ابوحنفية لا يحل للسارق الانتفاع بها بوجه من الوجوه (ردالمحتار باب السرقه ج۲ ص۲۹۱. ط. س. ج۴ ص۱۱۰) دلقطه حكم او حواله په وار وار تيره سوى دى. ظفير

(۲) وګورى: الدرالمختار على هامش ردالمحتار كتاب اللقطه ج۳ ص۴۴۱. ط. س. ج۴ ص۲۷۸. ظفير

(۳) فينتفع الرافع بها لو فقيرا والا تصدق على فقير الخ (درمختار) قوله لو فقيرا قيد به لان الغنى لا يحل له الانتفاع بها الا بطريق القرض لكن باذن الامام نهر قوله على فقير الخ قالوا ولا يجوز على غنى ولا على طفله الفقير وعبده (ردالمحتار كتاب اللقطه ج۳ ص۴۴۲ - ۴۴۳. ط. س. ج۴ ص۲۷۹). ظفير

(۴) فينتفع الرافع بها لو فقيرا والا تصدق على فقير (الدرالمختار على هامش ردالمحتار كتاب اللقطه ج۳ ص۴۴۲ - ۴۴۳. ط. س. ج۴ ص۲۷۹). ظفير

پر پرتو روپو باندي دلقطي حکم جاري کيږي: **سوال**: (۲۱) په لاره کي زيد دلسو لسو دوه نوټونه پراته پيدا کړه په هغو سره به څه کوي؟

جواب: دغه روپۍ دي پر فقراؤ او مسکينانو باندي صدقه کړي غرض دا دي چه دلقطي حکم به په دي کي جاري کيږي. (۱)

تم الجزء الثانی عشر بعون الله تعالى وتوفيقه على يد العبد الضعيف محمد ظفير الدين المفتاحی غفر الله له

وقد تمّ كتابة جميع الاجزاء للفتاوى بواسطة الاخوان الصالحان الباران في الله الاخ: مولانا نور احمد الحقاني النوراني، والاخ: القاري عبدالاحد الحقاني الحيدري، حفظهما الله تعالى ورعاهما، ثم تمّ تصحيح الاجزاء وادراک ما فات أوان الترجمة والكتابة من الاغلوطات والخطيئات في العبارة والحواشي على يد العبد الفقير الى الله القدير محمد أحمد الحقاني الأفغاني، غفر الله له جيمع ذنوبه وعفا عنه سيئاته ورحمه عند سكرات الموت وبعدها وفي القبر .

اللّهم وفقني ووفقهما ولجميع المسلمين لخدمة علوم الشريعة الغرّآء وكتابک المجيد وسنة رسولک الكريم واحاديثه صلّى الله عليه وسلّم وفقه إمامنا الأعظم ، المجتهد الأفخم ، والمحدث الأقدم الإمام أبي حنيفة النعمان رضى الله تعالىٰ عنه وعنّا .

وصلّى الله تعالى على أشرف رسله وخاتم أنبيائه سيدنا وحبيبنا ومولانا محمّد وعلى آله واصحابه الطيبين الطاهرين ، وعلى من حذا حذوهم ونهج منهجهم إلى يوم الدين . آمين ثم آمين



السبت ، ۲۲ جمادی الاولی ، ۱۴۳۰

❊ ❊ ❊

(۱) فينتفع الرافع لو فقيرا والا تصدق على فقير الخ (الدرالمختار على هامش ردالمحتار كتاب اللقطه ج۳ ص۴۴۲ – ۴۴۳، ط. س. ج۴ ص۲۷۹). ظفير